سره دَ قندهارى پښتو

صحيح مُسلِم شريف

پښتو



تاج کمپنی لمیٹڈ

یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو	یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو
اوچتول	لوړول	بیهوده	فالتو
اوګنړي	اوګنړي	بنړي	بنل
اهم	ضروري	بوټلونکي	بیونکي
اوکړل	وکړل	بغیر د دوی	بي له دوی
اودریدل	وکړل	بېکاره	بیهوده
اچول	غورځول	اوړیدل	اوښتل
هګی	هګی	اوچت	لوړ
باندیچي	کوچي	اولني	لومړني
بغیر	پرته	اثر انداز	اغیزه
بنیا د	بیخ	انتوشي	پرنجي
بوس	پروره	اړول	چپه کول
بربند ه	لوڅه	اوده کیدل	بیده کیدل
بورقه	چادري	انکار	منع کول
بد	خراب	بي فایدي	فالتو
بیماري	نارغتیا	بند	پوله
برداشت کول	زغمل	بعضي	خیني
بوقه	بوقه	باره	اړه
بانس	نل	اکتفا	بسنه
بوج	بار	بیهوده	بي ګټي
برابر	مساوي	بوتلل	بیول
برابري	یوشانوالي	بهر	باندي
اخلو	رانیسو	بي وسه	بیچاره
اودریږه	ولاړ شه	بندول	تړل
اودریدل	ولاړیدل	بار اړونکي مزدور	پندي
اعتبار	اره	باورچي خانه	پخلنځاي
اوده	ویده	بربند	لوڅ
اخر	پاي	بهرته اوځي	باندي اوځي
اخستل	رانیول	بجلي	بریښنا
اندي	هګی	بیلچه	چاری ، بیلچه
بیشي	خاشه	پس	ورروسته
بوس	پروره	پخوانو	تیرو
باهمي اشتراک	مهم اشتراک	په	پر
بي هوشي	بیهوښي	په مزه مزه	په کرار کرار
بسوالي	بسنه	پټکي	دستار
بټوه	همیانی	پانه	پانه
بودی	سپین سري	پیشو	پیشو

یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو	یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو
پته	پټه	پري	ایښي
پربخودل	پرېښودل	پلنوالي	سور
پښان	په خیر	پندی	ښنګري
پکار نه چي اوشي	باید چي وشي	په مزه	په کرار
پرانیستل	خلاصول	پهره	څوکی
پې څکل	شیدي څکل	پلنه خیټه	لویه خیټه
په یو ځل دوه بچي پیدا کېدل	غبرګلوني	پخیړي	پخیړي
بیړی	زولني ، هتکړی	پیدایش	زیږیدل
بې کروندي خمکه	شاړه خمکه	پړي	رسی
بره چت	لور پور	پنخویشت	پنخه ویشت
بر طرف	برسیره	پند	پلن
بندېدل	تړل کېدل	پټون	ورون
باقي	پاته	پیوست	پرلپسي
پرکټي	بچندر	پرتوګ	پرتوګ
پس	وروسته	تپوس	پوښتنه
پټي	کښت	تول	واړه
پریوتل	غورځیدل	تصویر	انځور
پوزه	پزه	تیره	تیغ داره
پلیتي	مرداري	ترور	عمه
پورته کول	جګول	تقسیمونکي	ویشونکي
پرله پسي	یو بل پسي	ترخ	تیخرګ
پشمني	پیشلمي	تسمه	تسمه
پوستکي	پوست	تیزي	تلوار
پښوکول	په پښو کول	تنخواه	معاش
پیدا کېدل	زیږیدل	تقسیم	ویش
پیدایشي	مور زادي	تښتېدل	څغاستل
پچه	هیسکه	جیلخانه	بندیخانه
بالتي	سطل	جنده	بیرغ
بیماري	ناروغي	جوټه	پیسخورده
بي ارادي	بي هوده	جامه	توکر
بیا مومي	پیدا کول	سپږه	سپږه
باقي خیزونه	پاتي شیان	جرم	جرم
باتینګر	تور بانجان	چیندخ	چنګښه
پوهه	هوښیار	پیغمبر	استازي
پالیسي	تکلاره	پیوند کول	جوړول
پښان	په خیر	پرده دار	پرده نشین

یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو	یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو
پخیدل	پخیدل	تیزه	خغښتنه
پکاردي	ښایي	تاله	قفل
پیوست	موښتي	تښتیدل	پرار کول
تعرض	یرغل	تیاره	چاغه
تلاش	لټون	جوړیږي	جوړیږي
توقع کوونکي	توقع	جدا جدا	جلا جلا
ترپکه	خغستل	جړا	ژړا
تصویر	انځور	جړه	ریښه
تره خوي	اکا زوي	جامي	کالي
تبدیلي	بدلون	چهره .	څېره
تیر	شهتیر	چیلي	وزه
تیزرفتار	تیز تلونکي	چپ	غلی
نان	ډوډی	چکر وهل	سیاحت کول
تلل	تګ	چرمخکی	چرمښکی
ترترو	د ژبي بندښت	چت	بام
تولیه	خان پاک	چل	چم
جامه	ژامه	چراګاه	ورشو
جواب	ځواب	څیز	شي
جلد	توک	څکل	څښل
جوول	ژوول	څملاستل	پریوتل
جنیي	انجلۍ	څادر	څادر
جړه	بیخ	څرول	پوول
چوغه	چین	خریږي	خریږي
پروني	تیکري	خرڅ کړي	پلورلي
پریشانه	خفه	ختمیدلي	ختمیدلای
پریخودي	پریښي	خوزیدل	ښوریدل
پوره کیدل	تمامیدل	دوایاني	درمل
پردي	بیګانه	دویم	دوهم
تنه	بدن	دریم	دریم
ترجمه	ژباړه	دروازه په دروازه	در په در
تورانکه	توتکي	د اوښ قب	د اوښ کو
تره	اکا	چکرونه	کشتونه
تلل را تلل	تګ راتګ	چپه	څپه
ترکاري	کتغ	چټل خور	مردار خور
تابوت	تابوت	چمره	څرمن
تیره طرف	[illegible]	[illegible]	چلن

یوسفزي پښتو	کندهاري پښتو	یوسفزي پښتو	کندهاري پښتو
څوکاټ	بازو	د دروغو دعوه	د درواغو دعوه
څرګندېدل	معلومېدل	دروازې سره متصله تاله	دروازې سره نژدې قلف
څرب	چاغ	داني	ننکی
څملول	پرېیستل	ډیران	ډیران
څپرکي	چوتره	ډیر کرته	ډیر خله
خبري	خبري	ډمبره	مچی
خامخا	خامخوا	رابنکته کول	راښکته کول
ختکي	ختکي	وروستوالي	خنده ول
خله	واره	راښکل	کش کول
دپاره	لپاره	هجوم	یرغل
دپاسه	سربیره	روزه دار	روژتي
دوران	مهال	رواج	دود او دستور
د کوټ لاندي طرف	پوستین	راغلئ	راغلاست
څنه	نخوند	رشتو کي	خپلوانوکي
څرګوټي	څرګوري	رشتیا	ربنتیا
څاره نختول	څاره د ننه کول	د مور خور	خاله
څابي	کیلي	د ولادت سامان	د زوکړي سامان
څاپیکول	پښي زورکول	د ورې څادر	شړی
څاروي	خاروي	د ورې تولي	لمخي
د شهدو مچی	د شاتو غلبوزي	د تاربندل	ګونجي
خملول	پرې ایستل	دعوه کول	دعوه کول
څرمن	پوست	د سر د پاسه	برسیره
خلاصیږي	پرانیزي	دهوکه کیدل	خطا کیدل
خیژول	زرول	د دې نه پس	له دې نه وروسته
خپره	خپره	ډوبیدل	ډوبیدل
خان ساتل	خان ژغورل	ډاکوان	غله
دایره	لمنه	ذمه	غاړه
دستانه	لاس ماغو	ریاست	ریاست
د جامو ویرولو پرې	تناب	ریزه	خاشه
درجن	درجن	رتل	ترتل
درد ولادت	د زیږون درد	رش	بیروبار
دایندہ	قابله	رجرومه	لجرومه
د وخت نه وراندې نفقه ورکول	پیشکي نفقه	وریښم	وریښم
دلاوري	میړانه	راپورته کوونکي	راپاروونکي
د اس خدمتګار	د اس خدمتګار	راپیښیږي	راپیښیږي
د سفر ضروريات	توښه	د غوښې اخیستل	څاغیدل

یوسفزی پښتو	کندهاري پښتو	یوسفزی پښتو	کندهاري پښتو
د خولي لاړي	ناړي ، لاړي	شامل	ورګډول
د مور خاوند	پلار	شیشه	ښیښه
دوه غوا ګاني	دوه سره غواګاني	شل	په پښو شل
دهقان	بزګر	شپونکي	شپونکي
د غنمو وکي	بمبل	شاملوي	ورګډوي
د پورته نه	د پس څخه	شاخ	ښاخ
درمیانه	منځني	ښي	راسته
دیوه	چراغ	ښکته کیدل	شیوه کیدل
دول	قسم	زمکه	ځمکه
دیري	امبار	زوړندول	رازړول
راګیرول	راټینګول	ذمه وار	عامل
روټی	دوډی	سبخه زمکه	جبه ځمکه
راټوکیدل	شنه کیدل	سوټه	خوشیان
راوتلي	راوتلي	سایکل	بایسکل
راخیستل	رانیول	سرکشه	سرکښه
رکاوټ	خنډ	سرود ګر	سوزګر
رشه	کوره	سامان	سامان ، اسباب
راشي	راشي	سره	سره
زده کړه کول	زده کړه کول	شروع نه	له پیل څخه
زیر	ژړ	شپه تیرول	شپه تیرول
زنګون	تیتکی	شمشتی	کشف
زیاته	دیره	شرمخ	لیوه
زفاف	واده	شپه کړي	شپه کړي
روند غويي	چغوپ	شمیري	حسابوي
سورلي	سپرلي	شا	څټ
سر پټ	سرپوښ	وجه	لامل
سوریدل	سپریدل	ښکته خاي	شیله خاي
سبا	سحر	زیاتیدل	دیریدل
سمدستي	سم دلاسه	ذویرړي	زګیروي
ساقطیږي	له منځه خي	ژغوریدل	ساتل کیدل
سستي	لټي	ړوند	ړوند
سسکوره	پسکوره	سره- نه	څخه
سانچه	سانچه	سوا	بغیر
سري مچي	سري غالبوزي	څټ	شا
سوري	سوري	سنت کول	ختنه
شا	څټ	سریتوب	سریتوب

یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو	یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو
ستار	دنبوره	غلاف	پوښ
سکروټکه	سکروټه	غنه	غنه
سنګ مرمر	د مرمرو ډبري	غبي	چټل ذهني
شلیدل	شکیدل	غټ بول	کنګي
شریک	ورګډ	غټه لاره	لویه لار
شیشه	ښیښه ، هنداره	فرق	توپیر
ښکته	کښته	قاشوغه	کاچوغه
ښیګره	ښیګڼه	قصه	کیسه
ښخه بوټي	ښخینه بوټي	قالین	قالینه
صندوق	صندوق	قب	کو
ضرري	مضر	قبا	چپن
ارخ	طرف	کورونو	کورنیو
علاقه	سیمه	ښکلول	مچي کول
تصویر	عکس ، انځور	ښایست	ښکلا
عادت شي	اموخته شي	صحن	غولي ، انګړ
غوپه	غوټه	طاقت	توان ، زور
غریبي	نیستي	عام طور	په ټولیز ډول
غمي	غمي	عطر لګول	خوشبو لګول
غوجل	د څارو د اودریدو ځاي	غاړه کی	عاړه کی
غوز	چارمغز،جوز	غټو کوناټو والا	عټ کوني
غرپ څکل	په یوه ساه اوبه څکل	غلطي مسلي ښودونکي مفتي	مفتي ماجن
فایده مند	ګټور	غوي	غوایي
قینچي کول	پري کول	فکري خطوط	فکري کرښي
قچه کوته	خچه کوټه	قابل عمل	د عمل وړ
کجوره	خرما	قیند	کنګ
غټه کوته	بټه کوټه	قبلي طرف	لوديځ
قرض	پور	قمري کال	سپوږمیز کال
کانړي	تیږه ، ډبره	قحط	وچ کالي
ښکته خاندان	ټیټه کورنی	کسان	نفر
صحت مند	تندرست	کم از کم	لږ تر لږه
ضرورت	اړتیا	کونسی	کوڅی
توکه	شان ، ځیر	کشتی	کښتی ، بیړی
ظاهري	بیرون طرف	کښي	کي
عبث	فالتو	کنده	ژور ځاي
علاوه	پرته	کانړیجن	ډبرین
غنم	غله	کولي	کولاي

یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو	یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو
کاروباري	کاروباري	کامیاب	بریالي
کټ	کټ ، چارپاي	کوناټي	کوناټي
کونټي	لکره ، امسا	کیټکي	کیټکي
کښاري	کښاري	کټل	شمیرل
کیدي شي	کیداي شي	کینټه	ګړی ، یوساعت
کوزه	لوټه	ګډه	پسه
کوټه سکه	نا چله روپی	کوټمه	ګوټه
کیني	کیښیني	ګوټ	کنج
کبان کټ کیږي	ماهیان پرې کیږي	ګناهګار	ګرم
کولاو لاري	خلاصي لاري	ګډ	وري ، مږ
کور	سراي	ګاوندي	همسایه
کچه	خام ، اوم	ګند	خزلي
ککریدل	مرداریدل	لوند	لوند
کندکي	مرداري	لټون	پلټنه
ګلونه	ګلونه	لوبې	بازی
کړي	پړ	لاسکي	لاستي
کانړي	دبره	لوهاري	اهنګري
کلي	کلیو	لاس خلاصول	لیچه خلاصول
کبدي	یوه لوبه ده	لاندي باندي	ښکته پورته
کوو	کاوه	لوشي	لوښي
کټمل	منګر	لوستل	ویل
کنستل	کیندل	موجودګي	موجودیت
کوتاهي	بې غوري	کونیکبر	منګر
کوخو	کوخیو	مری خفه کول	غاړه ور خفه کول
کواټر	کوچني سراي	مونځ	لمونځ
ګدوډکیدل	ګډوډیدل	منده وهل	خغستل
ګس	چپ	مرداره	مړزګه
ګازره	ګازره ، زردکي	ګډبه	شپون
کوهي	څاه	ګلګتي ویښته	پیچلي ویښته
کولو	کاوه	ګرد	ټول
کونځله	کونجکه	ګیره	ږیره
کارغه	کارګه ، کارغه	ګرماله	کیلماله
کنځلو	ښکنځلو	لرې	لیرې
ککیږي	ککیږي	لوګي	دود
کونتره چې په پښتو یې ویښته وي	پاموز	لیوني سپي	لیوني سپي
کمره	کوټه	لوییدل	لویدنه
کندک	تولي	لمحات	لحظې
کوږدن	کوږده	لږ لږ	کم کم

یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو	یوسفزی پښتو	کندهاری پښتو
مقابله	مبارزه	مخوکه	مشوکه
مدد	مرسته	میاندي	میندي
مجبوري	لاچاري	مشغول	بوخت
مونږ	موږ	مچي	غالبوزي
مشکیزه	ژي	مرول	ډکول
متبازي	بولي	ملګري	انديوال
ګڼ	ډير	مسلسل	پرلپسي
ګویا چي	ګواکي	مبتلا شي	اخته شي
ګرد غبار	دوړي ، لوخړي	ماهانه نوکر	میاشتني نوکر
ګوشه نشین	ګوښي کیناستل	نزدي	نژدي
ګټه تاوان	ګټه او تاوان	نجاست	پلیتي
لرلو	درلوده	نیا(د موریا پلارمور	انا
لګیدل	نښلیدل	نري تار	سپنسي
لقمه	ګوله	نیا ګاني	اناګاني
لګول	نښلول	ناقابله	لټ
لوښي	لوښي	نهر	ویاله
لاړ شه	ولاړسه	مسافت	لري والي
مالدار	شتمن	مقرر کول	ټاکل
میدان	ډګر	مغرب طرف	لویدیځ
ماشي	غوماشي	د مرغي بچي	چیچیټ
مرغي	چوغکه	مره خیته	ماړه نس
ماسپخین	ماسپښین	معتبر	د اعتبار وړ
مره کیدل	مرینه	پیزوان	پیزوان
موقع	پیښه	ماتي پیسي	میده پیسي
مګل	مښل	مخامخ	مخامخ
ملخ	ملخ	نمر	لمر
موندل	پیداکول	نیله معمولي تکره	ریښه
مولا	بادار	نشاني	نښاني
ملاوټ	ګډول	نیزدیکت	نږدیوالي
میخه	میښه	نان بایي	ډودی پخولو والا
نمری	ګوله	نغري	نغري ، دیګدان
نچوړول	نښیځل	وینځل	پریمنځل
نطاقي	خبریالي	ویستلو	ایستلو
ناوه	د لوړ خاي نه د اوبو لار	نوټ	لوټ
نمبر په نمبر	وار په وار	نوم	نوم
نامدار کړي شوي	نومول شوي	ورکوټي	کوچني
نمسي	لمسي	نکړي	نه کوي
نالي	لښتي ، ویاله	وسیع	پراخه

مَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا

هاغه ځه چه دالله رسول ئ تاسو له درکړي
هغه واخلئ او چه د ځه نه مو منع کړي د هغې نه ځان اوساتئ

صحیح مسلم شریف

مع

مختصر شرح نووی مترجم

جلد اول

ترجمه:
مولانا حبیب الرحمن
ایم۔ اے اسلامیات، فاضل رابطه المدارس
(جامع تفهیم القرآن مردان)

ناشران:
تاج کمپنی لمیټډ
لاهور۔ کراچي۔ راولپنډي۔ پشاور

فهرست د مضامینو د صحیح مسلم مترجم مع شرح نووی جلد اول

جلد اوّل

د کتاب سرنامه

د طرفه د مولانا وحيد الزمان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ مَنَّ عَلَيْنَا بِالْهِدَايَةِ اِلٰی دِيْنِ الْاِسْلَامِ وَاَحْکَمَهٗ فِیْ قُلُوْبِنَا خَيْرَ اِحْکَامٍ وَجَنَّبَنَا مِنْ بَوَاطِيْلِ الْوَسَاوِسِ وَالْاَوْهَامِ بِالْاِقْتِفَاءِ بِسُنَّةِ نَبِيِّهٖ خَيْرِ الْاَنَامِ عَلَيْهِ اَفْضَلُ الصَّلٰوةِ مَا تَکَرَّرَتِ اللَّيَالِیْ وَالْاَيَّامُ وَتَعَاقَبَتِ الْاَنْوَارُ وَالظَّلَامُ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْکِرَامِ

د حمد او صلوة نه پس فقير حقير او تقصير وحيد الزمان عفا عنه المنان د ټولو مسلمانانو رونړو اود حضراتو شوق مندو د حديثو د سيد المرسلين په خدمت کښ عرض کوی چه سره د کمزورئ او ناتوانائی او د کم والی د مال او د بے سروسامانئ د ۱۳۰۰ھ په آخر کښ صرف د غيبي تائيد او په امداد خداوندی څلور غټ کتابونه د حديثو منجمله د صحاح ستو په اردو ژبه کښ ترجمه اوشوه. يعني مؤطا امام امالکؒ او جامع ترمذی او سنن ابوداؤد او سنن نسائی. او الله جل شانه په خپل فضل وکرم سره د ے څلورو کتابونو لره قبول کړل او په سوونو او زرګونو نسخے دهغے طالبانو د هر څلورو طرفونو د ولايت هند واخستلے. اوس په شروع د څوارلسمے صدئ يعني ۱۳۰۱ھ د محرم د مياشتے نه دا فکر پيدا شو چه اګر چه د مقروض ژوند څهٔ اعتبار نشته او د دنيا ژوند صرف د اُوبو يوه بُربُرقئ ده. مګر تر څو پورے چه څوساګانے پاتے دی، هغه هم کهٔ د حديث په خدمت کښ اولګی نو دد ے نه لوئ نعمت بل کوم يو د ے. نو په د ے خيال سره صرف د خداوند کريم په مدد مے اعتماد اوکړو ما د صحيحينو په ترجمه کښ لګول مناسب اوګنړل او چونکه د صحيح بخاری شرحے او ترجمے په عربئ او فارسئ ژبه کښ خو ډيرے شوے دی بلکه اوس په اردو ژبه کښ يوه ترجمه د مدراس په ښار کښ چاپ کيدل شروع شوی وو. دد ے نه علاوه جناب نواب فيض مآب مُعلّی القاب خادم د سنتو د سيدالمرسلين ، وارث د انبيآؤ او د مرسلينو، مددګار د ښکاره شريعت ، امداد کونکے د مضبوط دين، د بدعاتو ختمونکے، د تيرو ختمونکے، مجدد قرن ثالث عشر، امام قرنِ رابع عشر، فخر العلماء والمجتهدين، سَر د مفسرينو او محدثينو جناب نواب والاجاه امير الملک مولانا سيد محمد صديق حسن صاحب بهادر چه د هغوی د لوئے ارادے هميشه د دين د خورولو او د مضبوط دين حمايت طرفته متوجه وی، د خپل اوچت همت او د اوچتے ارادے سره کتاب مستطاب نادرالوجود فتح الباری شرح د صحيح بخاری چهاپ کول په مصر کښ شروع کړل او ښکاره خبره ده چه د بخاری په شرحو کښ دد ے په شان شرح نهٔ جوړه شوے د نه نهٔ به جوړه شی. دد ے وجے نه د بخاری په ترجمه کښ دد ے شرحے په ملاويدو سره د لوئے آسانئ خيال وو. ما د بخاری ترجمے لره بالفعل ملتوی کړه او

حسب ايماء واشارت د جناب ممدوح صحيح مسلم شريف ترجمه م شروع كړه. په صحيح مسلم كښې د حديث د روغوالي او سند كره والي د صحيح بخاري نه كم نهٔ دے. په اتفاق د علماؤ دا كتاب هم د صحيح بخاري برابر دے. دد ے وجې نه دے دواړو كتابونو ته صحيحين وائي. اگر چه ډيرو علماؤ صحيح بخاري لره يو درجه په دے باندے وړاندے كړے ده. ليكن حافظ ابوعلي نيشاپوريؒ ويلي دي چه صحيح مسلم په نسبت سره صحيح بخاري ته زيات صحيح دے. او بعضے د مغرب علماؤ هم دد ے قول سره اتفاق كړے دے.او دد ے وجه دا ده چه امام مسلم په خپل صحيح كښې دد ے خبرے التزام كړے دے چه هغه حديث نقل كوي چه هغے لره دوه ثقوؤ تابعينو د دوو صحابو نه روايت كړے وي. دغسے په هره طبقه كښې دوو ثقوو يعني معتبرو سړو د دوو معتبرو سړو نه نقل كړے وي. او امام بخاري دد ے شرط خيال نهٔ دے ساتلے. او حديث إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ چه په صحيح مسلم كښې هم موجود دے اگر چه په دے كښې دا شرط نشته خو د بركت په نظر او په صحيح خيال او په وجه د مشهور كيدو ددهٔ ذكر كړے دے. او بعضو ويلي دي چه دا حديث مستثنٰى دے.

امام مسلمؒ فرمائي چه ما دا كتاب د دريو لاكهو حديثونو نه منتخب كړے دے. او كهٔ چرے د زمكے خلق د دوو سوو كالو پورے حديثونه ليكي نو ددوي اعتماد به آخري په دے كتاب وي. او ما يو حديث په دے كتاب كښې داخل كړے نهٔ دے مگر په پوهه سره او دليل سره. دغسے يو حديث م نهٔ دے ويستلے خو په پوهه او دليل سره. احمد بن سلمهؒ ويلي دي ما د مسلم سره دد ے كتاب په راجمع كولو په وخت پنځلس كالو پورے ليكل كړي دي. په دے كتاب كښې دولس زره حديثونه دي. مكي بن عبدان ويلي دي ما د مسلم نه اوريدلي دي هغهٔ به ويل ما دا كتاب ابوزرعه ته وړاندے كهٔ. بيا چه هغوي په كوم يو حديث كښې څهٔ علت بيان كهٔ ما هغے لره ويستهٔ او كوم حديث لره چه هغوي ويل چه صحيح دے او په دے كښې څهٔ علت نشته هغه ما داخل كهٔ. دے روايت لره خطيب بغداديؒ په خپل سند سره روايت كړے دے. د اعلى نه اعلى د مسلم هغه دے چه په هغے كښې د مسلم نه د رسول اللهﷺ پورے څلور واسطے وي. او څنگه چه امام بخاري ثلاثيات دي ، ددرے واسطو حديثونه ، هغه په صحيح مسلم كښې نشته. امام نوويؒ ويلي دي. مسلم په علم حديث كښې څو كتابونه ليكلي دي. په ټولو كښې مشهور دا صحيح دے. په دا كتاب په تواتر د مسلم رحمه الله سره نقل كړے شوے دے. په دے شان دے كتاب لره د مسلمؒ تصنيف يقيناً ويلے شي. او متصل سند سره مسلمؒ پورے روايت كړے شوے دے. او يو خاص فائده چه په دے كتاب كښې ده هغه داده چه مسلمؒ هر حديث لره يو خاص مقام چه مناسب وو مقرر كړے دے. او هم هلته ئے د دغے حديث ټول طرق جمع كړے

دي او د هغې مختلف الفاظ ئې په يو ځائې بيان کړي دي دد ے دپاره چه کتونکي ته اساني وي او د ټولو طريقونه فائده واخلي او دا خبره په صحيح بخاري کښې نشته امام حافظ عبدا الرّحمٰن بن علي يمني يو ښو شعرونه د صحيح مسلم په تعريف کښې ليکلي دي. چه د هغوی مضمون دا د ے چه ا ے لوستونکيه ! صحيح مسلم د علم درياب د ے چه په هغې کښې د اوبو د بهيدو لاړ ے نشته (يعني ټولې اُوبۀ په يو ځائې موجود دي) او د مسلم د روايتونو ذخيره د بخاري د روايتونو نه زياته مزه ورکوي حافظ ابن الصلاح ويلي دي. د مسلمؒ شرط دا د ے چه حديث متصل الاسناد وي. د اول نه تر آخره پور ے يو ثقه د بل ثقه نه نقل کوي او په د ے څۀ قسم شاذ والې او علت نۀ وي. سيوطيؒ ويلي دي د ثقه نه مراد دا د ے چه هغه راوي د مسلمؒ په نز ثقه وي. اګر چه د نورو په نز ثقه نۀ وي. او دغسې مسلمؒ د شپږ سوه پنځلس داسې خلقو نه روايت کړ ے د ے چه د هغوی نه امام بخاريؒ روايت نۀ د ے کړ ے. دغسې بخاريؒ څلور سوه څلور ديرش داسې سړونه روايت کړ ے د ے چه د هغوی نه مسلمؒ نۀ د ے کړ ے. او ځونه حديثونه داسې راوتلي دي چه مسلمؒ په شرط صحيح دي او د بخاري په شرط صحيح نۀ دي. دد ے وجې نه د مسلمؒ په نز د هغې په راويانو کښې هغه ټول شرطونه موجود دي چه د حديث د صحت دپاره ضروري دي مګر د بخاريؒ په نز موجود نۀ دي. بيا مسلمؒ په خپل کتاب کښې په داسې لارخې چه د هغې په وجه د دوی کتاب لره په صحيح بخاري باند ے غوره والې ورکړ ے شو ے د ے. هغه دا چه امام مسلمؒ د حديث ټول متنونه د هغې ټول طريقې په يو ځل په يو ځائې جمع کوي. او هغې لره په مختلف بابونو کښې ځان خانله نۀ راوړي او د هغې ټول عبارت بيانوي. او د باب په ترجمو کښې هغې لره ټکړ ے ټکړ ے کوی نه او تر وسه پور ے د الفاظو لحاظ کوي. او نقل بالمعنٰى نۀ کوي. تر د ے پور ے چه يو راوي د بل راوي نه په يو لفظ کښې اختلاف کړ ے وي او معنٰى د دواړو لفظونو يو شان وه بيا هم مسلم د هر راوي لفظ لره بيانه وي. تر د ے پور ے احتياط د ے چه کۀ چر ے يو راوي حَدَّثَنَا ويلي وي او بل اَخْبَرَنَا نو هغه ليکي چه فلاني راوي حَدَّثَنَا ويلې د ے او فلاني اَخْبَرَنَا او د حديث سره د صحابوؓ اقوال او تابعينو وغيره اقوال او باب او ترجمو لره نۀ يو ځائې کوي. ځکه چه ددوی حرص وو دد ے خبر ے چه په حديث کښې بل څۀ شے ملاؤ نۀ شي. نو وروستو د مقدمې نه په د ے کتاب کښې بل څۀ نۀ دي سوا د حديث نه ابن الصلاحؒ ويلي دي چه هغه حديثونه چه د هغوی د صحت مسلم حکم کړ ے د ے په د ے کتاب کښې يقيناً صحيح دي او دغسې هغه حديثونه چه هغوی ته بخاريؒ صحيح ويلي دي. ځکه د امت محمديؑ علماؤ د ے دواړو کتابونو لره منلي دي او چه يو نيم کس په د ے کښې اختلاف کړ ے د ے، د هغۀ د اختلاف لره اعتبار نشته امام الحرمين ويلي دي چه کۀ چر ے يو سړ ے قسم اوخوري د خپلې ښځې په طلاقو چه د بخاريؒ او د مسلمؒ چه کوم

حدیثونه صحیح دي هغه د رسول اللهﷺ قول دے. نو د هغهٔ ښخه نهٔ طلاقیږي خکه چه دا دے دواړو کتابونو حدیثونه صحیح دي او علماؤ اجماع کړے ده ددوي په صحت. او ټول امت محمديﷺ اتفاق کړے دے په دے خبره چه د کوم حدیث په صحت باندے د بخاريؒ او د مسلمؒ اتفاق وي هغه صحیح دے. ابن الصلاحؒ ویلي دي چه مسلمؒ د ابوزرعه رازيؒ خواله راغے او د یو ساعت پورے کیناستهٔ او خبرے ئے کولے. هر کله چه پاسیدهٔ نو چا اووے چه دوي څلور زره احادیث په خپل صحیح کښ جمع کړي دي. ابوزرعهؒ اووے بیا هغه نور احادیث د چا د پاره پریخودل. شیخ ویلي دي مطلب ددے سړي دا وو چه مسلم کښ اصل څلورزره احادیث دي د مکرراتو نه علاوه. او چه مکررات ورسره ملاؤ کړے نو اوو زره دوه سوه پنځهٔ اویا احادیث دي. مسلمؒ دے کتاب لره د بابونو په ترتیب باندے لیکلے دے او په حقیقت کښ په باب باب باندے مرتب دے. د باب ترجمو لره ئے د کتاب په متن کښ داخل کړے نهٔ دي. ددے د پاره د کتاب غټ والي زیات نهٔ شي یا د څهٔ بل غرض د وجے نه. امام نوويؒ ویلي دي خلقو د صحیح مسلم د بابونو ترجمے کړے دي بعضے ښے دي او بعضے نه. ددے وجه نه د ترجمو په عبارت کښ قصور دے یا ددے الفاظ کمزوري دي. او زهٔ به په خپله شرح کښ ددے ترجمو لره د مناسب عبارتونو سره بیانوم. سیوطيؒ ویلي دي چه دا د کوم صحیح مسلم په یوه نسخه کښ د بابونو ترجمے سره دي نو دا د مسلمؒ جوړ کړے شوي نهٔ دي. بلکه خلقو د هغوي نه وروستو جوړ کړي دي. او دوي کښ ښهٔ خراب ټول شته څنګه چه نوويؒ ویلي دي. او ددے خلقو غرض دا وو چه د حدیث په راویستو کښ اساني وي. لیکن ښهٔ دا ده چه باب ترجمه په کتاب کښ اونهٔ لیکے څنګه چه په پخوانو نسخو کښ لیکلي شوے نهٔ دي. او د کومو خبرو په وجه چه د مسلمؒ کتاب د بخاريؒ د کتاب نه ممتاز دے، په هغے کښ یوه خبره داده چه د مسلمؒ تعلیقات (یعني بے سندونو روایتونه) ډیر کم بیان کړي دي سوا د یو څو ځایونو نه. په خلاف د بخاريؒ نه چه د هغوي په کتاب کښ تعلیقات ډیر دي. نوويؒ ویلي دي مسلم په خپل کتاب کښ ښے طریقے اختیار کړے دي ډیر په احتیاط او مضبوطئ او معرفت سره. او ددے نه د دهٔ کمالِ دیندارئ او ډیر علم او انتهائي تحقیق او لوئي شان معلومیږي او مسلمؒ په خپله مقدمه کښ لیکلي دي چه هغوي حدیث په دریو قسمونو کښ تقسیم کړے دي. یو خو هغه چه هغے لره لویو لویو ښو حافظانو روایت کړے وي. دوېم هغه چه هغے لره درمیانو خلقو چه د هغوي عیب پټ شوے دے روایت کړے وي. دریم هغه چه هغے لره کمزورو او پریخودے شوو خلقو روایت کړے وي. نو مسلمؒ هر کله چه د ومبني قسم حدیثونو نه فارغ شي نو دوېم قسم حدیثونه راوړي. لیکن دریم قسم حدیثونو لره بالکل نهٔ راوړي علماؤ اختلاف کړے دے چه ددے تقسیم نه څهٔ مراد دے. حاکمؒ او بیهقيؒ ویلي دي چه مسلمؒ دوېم قسم

بیانول غواړي مګر د هغې نه مخکښې ناڅاپه مرګ راغې او صرف اولنی قسم حدیثونه د هغوی په کتاب کښې دي قاضي عیاض ویلي دي چه په غور سره دا خبره صحیح نۀ معلومیږي. او هغۀ په خپل کتاب کښې د دریواړو حدیثونو بیان کړے دے ابن عساکر ویلي دي چه مسلم خپل کتاب لره په دوه ؤ قسمو حدیثونو سره مرتب کول غوختل. په یو قسم کښې ښۀ ښۀ حافظانو او ثقه خلقو روایتونه او دویم قسم کښې د پټ کړے شو او د ربښتنې متوسطو خلقو روایتونه مګر دوی لره مرګ راغې او دا آرزو پوره نۀ شوه. او د کتاب ترتیب د تراجمو او د بابونو سره پاتې شو. سره د دے نه د هغوی کتاب مشهور او مقبول شو. او دریم قسمه احادیث لره هغوی بالکل بیان نۀ کړل. بیا د مسلم نه وروستو نورو خلقو یو څو کتابونه د مسلم د صحیح په شان اولیکل او اوچت سندونه ئې حاصل کړل. او په دوی کښې بعضو د مسلم مشائخ اوموندل او د مسلم احادیث ئې په خپل کتاب کښې اولیکل. شیخ ابو عمرو ویلي دي دا چه کوم کتابونه د صحیح مسلم په طرز لیکلي شوي دي اګر چه په دوئ کښې د صحت یوه نخښه شته مګر په ټولو خبرو کښې هغه د صحیح مسلم برابر نۀ شي کیدے. په صحیح مسلم باندے علماؤ ډیرے شرحے لیکلي دي. په ټولو کښې مشهوره هغه ده چه هغې لره امام حافظ ابوزکریا محی الدین نووی شافعي لیکلے ده. او هغه شرح خوره شوے او مشهوره ده. او د صحیح مسلم سره په هندوستان کښې چهاپ شوے ده. او یوه دده شرح خلاصه ده چه هغې لره شمس الدین محمد بن یوسف تونوي مرتب کړے ده. او یوه غرح ده د قاضي عیاض مالکي، د هغې نوم "اکمال المعلم فی شرح صحیح المسلم" ده. او یوه شرح ده د ابوالعباس احمد بن عمر بن ابراهیم قرطبی ده. او دا د نووی رحمه الله د هغې نه هم مخکښنے ده او یوه شرح ده د امام ابو عبد الله محمد بن خلیفه مالکي په څلور جلده کښې او یوه شرح ده د ابو عبد الله محمد بن علي مازري چه د هغې نوم "المعلم بفوائد کتاب المسلم" ده. او یوه شرح ده د عماد الدین عبد الرحمن بن عبد العلی مصري. او یوه شرح ده د غرائب مسلم د عبد الغافر بن اسمٰعیل فارسي چه د هغې نوم "المفهم فی شرح غریب المسلم" دے. او یوه شرح ده د سبط ابن الجوزي. او یوه شرح ده د ابو الفرج عیسیٰ بن مسعود زوادي په پنځو جلدو کښې. او یوه شرحه ده د قاضي زین الدین زکریا محمد انصاري. او یوه شرح ده مختصر د شیخ جلال الدین سیوطي چه د هغې نوم "الدیباج علی صحیح مسلم بن الحجاج" دے. او یوه شرح ده د قوام الدین ابو القاسم اسمٰعیل بن محمد اصفهاني.. او یو شرح ده د تقي الدین شافعي رحمه الله. او یوه شرح ده د قسطلاني. د هغې نوم "منهاج الدیباج" دے. او یوه شرح ده د ملا علي قاري په څلور جلده کښې. د صحیح مسلم مختصرات هم ډیر دي. یو مختصر دے د ابوعبد الله شرف الدین محمد بن عبد الله مرصي. او یو مختصر دے د زوائد مسلم په بخاري د

حافظ سراج الدین عمرو بن علی ملقن شافعی رحمه الله. او یو مختصر دے د حافظ زکی الدین منذریؒ. او دد ے مختصر شرحے هم ډیرے دی. او د ټولونه ښۀ شرح د هغۀ "السراج الوهاج" ده. چه زمونږ په زمانه کښې د جناب مولانا محمد صدیق حسن صاحب بهادرز د تصنیفاتو نه چهاپ کیږی. او په دے ترجمه کښې دد ے شرح نه ډیر فوائد نقل کړے شوی دی

دامام مسلمؒ حال څوک چه دد ے کتاب لیکونکے دے:

ددوی نوم مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیری بن وردین کرشاد نیشاپوری دے. امام دے حافظ دے.

دعلم حدیث زدکړه:

او د حدیث د علم د حاصلولو دپاره دوی د حجاز او د شام او د عراق او د مصر سفر اوکړو او ددوی مشهور مشائخ دا خلق دے . یحیٰی بن یحیٰی نیشاپوریؒ. امام احمد بن حنبلؒ ، اسحاق بن راهویهؒ ، عبد الله بن مسلمه قعنبیؒ ، قتیبه بن سعیدؒ ، ابوبکر بن ابی شیبهؒ ، محمد بن بشارؒ ، محمد بن المثنیٰؒ او نور ددوی نه ډیر خله بغداد ته راغے او بغداد والو ددوی نه روایت کړے دے د ټولو نه په آخر کښې ۲۵۹ھ کښې بغداد ته تشریف راوړے وو. ترمذیؒ ددوی نه روایت کړے دے خطیب بغدادیؒ ویلی دی مسلمؒ د بخاریؒ تکرار کړے دے او د خلقو د اعتراضونه به ئے ددوی نه دفع کول. تردے پورے چه د ددوی او د ذهلیؒ په مینځ کښې په دے وجه اختلاف شوے وو. حافظ محمد بن یعقوبؒ ویلی دی بخاریؒ چه کله نیشاپور ته راغے نو مسلمؒ به ددۀ خواله تۀ راتۀ. ددے وروستو د بخاریؒ او د ذهلیؒ په مینځ کښې په یوه مسئله اختلاف راغے . او ذهلیؒ خلقو لره د بخاریؒ خواله د تلو نه منع کړل لیکن مسلمؒ اونۀ منل. کله چه ذهلیؒ ته د هغے خبر اوشو نو هغه غصه شو مسلم د مجلس نه پاسیدۀ او څونه احادیث ئے چه د ذهلی نه لیکلی وو هغه ئے هغۀ ته واپس کړل په دے باندے د ذهلی سره ملاقات پریخودۀ.

دصحیح مسلم درجه په کتب داحادیثو کښې:

بهر حال امام مسلمؒ د احادیثو د لوئے لوئے علماؤ نه دے. او حافظ او امام او مقتدا دے د هغه علم چه هغے لره ائمه حدیث منلے دے. او د حدیث په طلب کښې ددنیا په ګټ ګټ کښې اوګرځیدۀ. او د محمد بن مهران رحمه الله او ابوغسان رحمه الله او عمر بن سوادؒ او جزیله بن یحیٰیؒ او سعید بن منصورؒ او ابو مصعب نه اوریدلی دی او د هغوی نه روایت کړے دے یو جماعت د علماؤ او حفاظو. لکه ابو حاتم رازیؒ او موسیٰ بن هارونؒ او احمد بن سلمهؒ او ابوبکر

بن خزیمهؒ او د ډیرو خلقو نه چه د هغوی شمار ګران دے. ابوعمر بن احمد بن حمدان ویلی دی ما د ابوالعباس بن عقدهؒ نه تپوس اوکړو چه د بخاریؒ او د مسلمؒ نه څوک لوئے دے؟ هغوی اووے دواړه عالمان دی. بیا ما تپوس اوکړو هغوی اووے اے ابوعمر! د بخاری نه کله غلطی کیږی چه په اهل شام کښې یو خائے د چا کنیت بیانوی او بل خائے د هغهٔ نوم، نو خیال پیدا کیږی چه دا دوه سړی دی. او د مسلمؒ نه ډیره کمه غلطی کیږی. خطیب بغدادی ویلی دی مسلمؒ تابعداری کړے ده د بخاریؒ او هغه تلے دے د بخاری رحمه الله په لاره. دار قطنیؒ ویلی دی که چرے بخاری نهٔ وے نو مسلمؒ ته به هم دا لار نهٔ وه ملاؤ شوے. غرض مسلمؒ د بخاریؒ نه ډیره فائده اوچته کړے ده. ابو احمد شیخ حاکم نیشاپوریؒ ویلی دی چه مسلمؒ په خپل کتاب کښې ډیر مختلف احادیث د بخاریؒ د کتاب نه اخستی دی مګر دوی لره بخاریؒ په طرف نسبت نهٔ دے ورکړے. او نهٔ ئے په خپل صحیح کښې د بخاریؒ نه روایت کړے دے.

د امام مسلم نور تصانیف:

امام مسلمؒ سوا د دے صحیح نه نور هم کتابونه لیکلی دی، لکه مسند کبیر، جامع کبیر، کتاب العلل، کتاب الطبقات، کتاب اوهام المحدثین، کتاب التمیز، کتاب من لیس له الاراو واحد، کتاب اوهام المخضرمین، کتاب الاسماء ولکني، کتاب الوحدان، کتاب حدیث عمرو بن شعیب، عن ابیه عن جده، کتاب مشائخ مالکؒ، کتاب مشائخ الثوری

او د مسلمؒ د عجیبه حالونو نه یو دا دے چه هغوی ټوله عمر د چا غیبت نهٔ دے کړے او نهٔ ئے څوک وهلے دے او نهٔ ئے چا ته کنځل کړی دی او د حدیث د کره کهوټه په پیژندو کښې په ټولو وړاندے وو. تردے پورے چه په بعض امور کښې په بخاریؒ باندے هم دوی ته فضیلت ورکړے شوے دے. څنګه چه مخکښې تیر شو

تاریخ پیدائش د امام مسلم او وفات:

په ۲۰۲ھ کښې پیدا شوے وو او د اتوار په ماښام د رجب په پنځویشم تاریخ په ۲۶۱ھ کښې وفات شو ددوی عمر پنځه پنځوس کاله وو او د ګل په ورځ ئے خخ کړهٔ ددوی د وفات قصه داسے لیکلے ده چه په مجلس کښې خلقو ددوی نه د یو حدیث تپوس اوکړو دوی ته معلوم نهٔ شو هغهٔ په کور کښې په ټولو کتابونو کښې اولټوو او یوه ټوکرئ د کهجورو ددوی مخے ته پرته وه یوه یوه کهجوره ئے خوړله تردے پورے ټوکرئ ئے ختمه کړه او د حدیث په لټون کښې داسے ډوب وو چه دوی پوهه هم نهٔ شو او د هغه وجے نه مړ شو. ابوحاتم رازیؒ د مسلمؒ د مرګ نه پس په خوب کښې

اوليدۀ. د هغوي حال نے اوتپوسۀ. هغوي اوويل الله جل شانه جنت خما دپاره مباح كړے دے. كوم خائے كښې چه غواړم اوسيږم

دترجمے دمؤلف سند دامام مسلمؒ پورے:

اجازت راكړے دے ماته د صحيح مسلم خما شيخ عالم علامه شيخ احمد بن ابراهيم بن عيسيٰ شرقي حنبليؒ هغوي ته اجازت وركړے وو شيخ عبد الرحمٰن بن حسن. هغوي ته اجازت وركړے وو شيخ حسن قويسني مصري هغوي ته اجازت وركړے وو شيخ سليمان بجيزي هغوي ته اجازت وركړے وو شيخ محمد عشماوي. هغوي ته اجازت وركړے وو شيخ عبد العز عجمي. هغوي ته اجازت وركړے وو شيخ محمد شويري هغوي ته اجازت وركړے وو محمد رملي. هغوي د شيخ الاسلام زكريائي انصاري نه اوريدلي وو. هغوي د امام حافظ ابن حجر عسقلانيؒ نه. بيا حافظ ابن حجرؒ روايت كوي دد ے كتاب د صلاح بن ابي عمرو مقدسي نه. او هغوي د علي بن احمد بن بخاريؒ نه او هغوي د نويد طوسي نه. او هغوي د عبد الله فرادي نه او هغوي د عبد الغافر فارسي نه. او هغوي د ابي احمد محمد بن عيسيٰ جلودي نه. او هغوي د ابي اسحاق ابراهيم بن محمد نه. او هغوي د امام حافظ مسلم بن الحجاج قشيريؒ نه چه دد ے صحيح مؤلف د ے

الله د ے راضي شي دد ے بزرګانو نه او بخښنه د اوكړي ما ته او خما موراو پلار ته او رورو ته او ټولو مسلمانانو ته نو د كتاب د ترجمه كونكي د امام مسلمؒ پورے شپاړس واسطے دي. او امام مسلمؒ په واسطه د رسول اللهﷺ پورے په رباعي حديث كښې څلور دي په د ے حساب د مترجم نه د رسول اللهﷺ پورے يويش واسطے دي.

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى ذٰلِكَ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د امام المحدثین حُجّة الاسلام حضرت امام مسلمؒ د ژوند مختصر حالات

حضرت امام مسلمؒ په محدثینو کرامو کښې چه کومه اوچته مرتبه لری هغه د چا نه پټه نۀ ده. د علماؤ د اسلام اګرچه فیصله داده چه په اسلام کښې د قرآن مجید نه پس اوله درجه د صحیح بخاری شریف ده او بیا د صحیح مسلم. دد ے نه د صحیح مسلم شریف د راجمع کونکی حضرت امام مسلمؒ د لوئی والی پوره اندازه کیږی. لیکن د بعضو علماؤ خیال دا هم د ے چه د صحیح مسلم درجه اګر چه د صحیح بخاری نه اوچته نۀ ده خو برابر خوامخوا ده. ځکه د مسلم شریف احادیث د پوره تحقیق نه پس جمع کړی شوی دی. او د بعضو اعتباراتو نه په تحقیقاتو کښې د حضرت امام مسلمؒ درجه د امام بخاریؒ نه لویه ده

په هر حال د حضرت امام مسلمؒ درجه په محدثینو کرامو کښې دومره اوچته ده چه دغے درجے ته د امام بخاریؒ نه علاوه بل محدث نشی رسید ے. او ددوی کتاب صحیح مسلم ددومره لوئے پایے کتاب د ے چه د صحیح بخاری نه علاوه بل کتاب ددۀ مخے ته نشی کیخود ے.

خاندان او د نسب سلسله، پیدائش او وفات:

د حضرت امام مسلمؒ پوره نوم ابو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیری بن وردین وو. ابوالحسین د هغوی کنیه وه. او عساکرالدین ئے لقب وو. د بنوقشیر قبیلے سره تعلق لرۀ چه د عربو یو مشهور خاندان وو. او د خراسان د مشهور ښار نیشاپور ددوی وطن وو.

حضرت امام مسلمؒ په اختلاف د اقوالو په ۲۰۳ھ یا ۲۰۶ھ پیدا شو ے د ے. خو د ډیرو علماؤ او مؤرخینو تحقیق داد ے چه د هغوی د پیدائش ۲۰۶ھ زیات معتبر د ے. حضرت امام نوویؒ د صحیح مسلم شارح لیکی چه حضرت امام مسلمؒ په ۲۰۶ھ کښې پیدا شو ے وو. او عمر ئے پنځۀ پنځوس کاله وو او ۲۴ رجب په ۲۶۱ھ د اتوار په ورځ د ماښام په وخت وفات شو ے وو. او په نیشاپور کښې دفن کړ ے شو

تعلیم او تربیت:

حضرت امام مسلمؒ د والدینو په نګرانئ کښې ډیر ښهٔ تربیت حاصل کړو. او د هغهٔ د پاک تربیت دا اثر وو چه د ژوند د شروع نه د آخری ساه پورے هغوی پرهیزګارئ او د دینداریٔ ژوند تیر کړو. او چرته ئے هم چا ته په ژبه نهٔ څهٔ بد ویلی وی تر دے پورے چه د چا د غیبت ئے هم نهٔ وو کړے او نهٔ ئے څوک په لاس وهلے وو.

ابتدائی تعلیم دوی په نیشاپور کښې حاصل کهٔ. دوی خدائے پاک پوهه او ذهن اوچته حافظه ورکړے وه چه په ډیره موده کښې ئے مروجه علوم او فنون حاصل کړل او بیا د احادیث نبوی ﷺ د حصول او تعلیم طرفته متوجه شو.

د علم حدیث حاصلول او تعلیم:

د مؤرخینو بیان دے چه حضرت امام مسلمؒ د علم حدیث تعلیم د حضرت محمد بن یحییٰ ذهلی نیشاپوریؒ نه او د حضرت یحییٰ بن یحییٰ نیشاپوریؒ نه حاصل کهٔ. دا دواړه حضرات د خپلے زمانے د حدیثو امامان وو. او د دوی د درس حلقه ډیره پراخه وه. تر دے پورے چه امام بخاریؒ وغیره لوئی محدثینو هم د دوی نه علم حدیث حاصل کړے وو.

د علماؤ بیان دے چه امام بخاری او امام مسلم د حدیثو د ایزد کړے په وخت کښې د خپل استاذ محمد بن یحییٰ ذهلی سره په یو مسئله کښې اختلاف راغے. او دا اختلاف دومره زیات شو چه د امام بخاریؒ سره امام مسلمؒ ته هم د امام ذهلیؒ د درس د حلقه نه پریخودل پریوتل. تر دے پورے چه حضرت امام مسلمؒ د خپل انتهائی دیانت نه کار واخستهٔ او د امام ذهلیؒ د هغه ټولو احادیثو لیکل چه د امام ذهلیؒ نه ئے حاصل کړے وو، ذکر شوی امام ته ئے ورکړل. او بیائے د هغوی نه څهٔ حدیث نقل نهٔ کهٔ. دا اختلاف په اصل کښې د امام بخاریؒ او د امام ذهلیؒ په مینځ کښې د خَلق په مسئله باندے راغلے وو. امام بخاری د خلق د لفظ قائل وو او امام ذهلیؒ لفظ لره قدیم ګنړهٔ. امام مسلمؒ په دے مسئله کښې د امام بخاریؒ ملګرتیا اوکړه او د دوی تائید ئے اوکړو.

د مؤرخینو بیان دے چه هر کله د امام بخاریؒ سره د خلقِ لفظ په مسئله باندے د امام ذهلی اختلاف زیات شو نو امام ذهلیؒ په حلقهٔ درس کښې د دے اعلان اوکړو چه هیڅوک به د امام بخاریؒ سره نهٔ ملاویږی. امام ذهلیؒ خو د اوچتے درجے محدث وو او په نیشاپور کښې د دوی رعب او دبدبه وه، د دے وجے د دهٔ په حکم باندے عمل اوکړے شو او خلقو د امام بخاریؒ خواله تګ راتګ پریخودهٔ. خو امام مسلمؒ به هم هغه شان راتهٔ. شاګردانو امام ذهلیؒ ته د دهٔ شکایت اوکړو امام مسلمؒ د امام بخاریؒ خواله تګ راتګ نهٔ پریخے. یوه ورځ امام مسلمؒ په حلقهٔ درس کښې شامل وو چه امام ذهلیؒ حلقهٔ درس

ره ئے مخاطبه کړه اووے ویل " په تاسو کښې څوک د خلق لفظ قائل وی نو هغهٔ لره څما په مجلس کښې
ناسته حرامه ده " امام مسلمؒ دا واوریدل او پاسیدهٔ خپل څادر ئے په سر کیخودهٔ او واپس راغے او بیا
چرته هم د امام ذهلي په حلقهٔ درس کښې شامل نهٔ شو. او تعلقاتو همیشه دپاره ختم شو.

دد ے نه ورستو امام مسلم ګیر چاپیره په علاقو کښې د حدیثو د تحصیل دپاره سفر غوره کهٔ. حجاز، شام،
مصر، رے، یمن، او بغداد ته لاړهٔ. او د هغه ځائے د محدثینو کرامو نه ئے احادیث حاصل کړل. په هغه محدثینو کښې
امام احمد بن حنبلؒ، اسحق بن راهویهؒ، عبدالله بن مسلمه قعنبیؒ، محمد بن مهران جمالؒ، ابوغسال سعید بن
منصورؒ او ابومصیبؒ ډیر مشهور دی.

د صحیح مسلم شریف ترتیب:

د اسلامی ملکونو د اوږدے دورے نه پس امام مسلم څلور لاکهه احادیث راجمع کړل. او د هغو نه
یو لاکهه مکرر حدیثونه ئے درے لاکهه حدیثونه ئے یو ځائے کړل. او بیا دد ے دریو لکهو حدیثونو ئے د
ډیر مودے پورے کتل راکتل کول. او د ے کښې چه کوم احادیث په هر اعتبار سره مستند او معتمد
ثابت شو ، د هغے انتخاب ئے اوکړو او صحیح مسلم لره ترتیب ورکهٔ. یعنی د دریو لکهو حدیثونو نه ئے
د دولسو زرو حدیثونو نه څهٔ د زیات حدیثونو انتخاب ئے اوکړواو هغه ئے په صحیح مسلم کښې اولیکل
او باقی ئے پرېخودل.

د احادیثو په کتابونو کښې د صحیح مسلم درجه:

د احادیثو ډیر کتابونه دی په هغے کښې علماءِ اسلام شپږ کتابونه زیات مستند او متعبر ګرخولے
دی او دوی ته ئے د صحیح لقب ورکړے دے. یعنی صحیح بخاری ، صحح مسلم، صحیح ترمذی،
صحیح ابوداؤد ، صحیح نسائی او صحیح ابن ماجه. او په دوی کښې ئے صحیح بخاری او صحیح مسلم
زیات مستند ګرخولے دی. په صحیح بخاری او صحیح مسلم کښې کوم یو معتبر دے او د چا مرتبه
اوچته ده په دے کښې د علماؤ د رائے اختلاف دے. بعضے صحیح بخاری لره اوچت منی او بعضے
صحیح مسلم لره او بعضو فیصله کړے ده چه په بعضو اعتباراتو سره د صحیح بخاری مرتبه اوچته
ده او په بعضو اعتبارانو سره د صحیح مسلم درجه اوچته ده. دغه رنګے د لاتدنیو اقوالو نه دد ے
کیفیت وضاحت کیږی.

۱. حافظ عبد الرحمن بن علي الزبيع يمني شافعي وائي:

تَنَازَعَ قَوْمٌ فِي الْبُخَارِيِّ وَمُسْلِمٍ لَدَيَّ وَ قَالُوا اَیَّ ذَیْنِ يُقَدَّمُ
فَقُلْتُ لَقَدْ فَاقَ الْبُخَارِيُّ صِحَّةً كَمَا فَاقَ فِي حُسْنِ الصَّنَاعَةِ مُسْلِمُ

خلقو خما په مخکښې د بخاري او د مسلم د ترجيح او غوروالي په باره کښې خبرے اترے اوکړے. نو ما اووے "په صحت کښې بخاري او په ترتيب وغيره کښې مسلم د ترجيح قابل دے"

۲. ابوعمر بن احمد بن حمدان وائي ما د ابوالعباس بن عقده نه تپوس اوکړو خه په بخاري اومسلم کښې کوم يو ښهٔ دے؟ هغوی اوفرمايل "هغه هم عالم (او محدث) دے او دے هم". ما دوباره تپوس اوکړو نو وے ويل "بخاري اکثر په غلط هم ليکي. د شام ډير راويان داسے دي خه د هغوی ذکر بخاري چرته په کنيت سره کړے دے او چرته په نوم سره. چه د هغے دا خيال پيدا کيږي چه دا دوه راويان دي. ليکن مسلم داسے غلطئ نهٔ دي کړي او د هر يو سړي تحقيق ئے کړے دے او ليکلے دے"

۳. خطيب بغدادي وائي چه امام مسلم په خپل صحيح مسلم کښې د بخاري تابعداري کړے ده او په بخاري پسے قدم په قدم تلے دے.

۴. حافظ ابو علي نيشاپوري وائي چه صحيح مسلم په ټول کتابونو د حديثو باندے ترجيح لري. د حافظ ممدوح دا وينا ده چه "مَا تَحْتَ اَدِيْمِ السَّمَآءِ اَصَحُّ مِنْ كِتَابِ مُسْلِمٍ" (د آسمان نه لاندے د صحيح مسلم نه زيات صحيح کتاب (د قرآن کريم نه پس) يو نهٔ دے)

۵. ابوزرعه رازي او ابو حاتم د امام مسلمؒ د درياب د علم حديث په وجه امام مسلمؒ له امام د علم حديث ګڼړلي د محدثينو د جماعت سردار ګڼړلي.

وفات د حضرت امام مسلمؒ:

د حضرت امام مسلمؒ د وفات عجيبه واقعه مؤرخينو دا بيان کړے ده چه يو ځل د خبرو اترو په مجلس کښې چا د امام مسلمؒ نه يو حديث اوتپوسهٔ. حضرت امام مسلم ته په هغه وخت د هغه حديث په نسبت سره صحيح علم نهٔ وو، د دے وجے نه هغهٔ جواب ورنهٔ کړے شو. او کورته واپس راغے او د هغے حديث لټون ئے شروع کهٔ. دوی د حديثو ليکل اړول راړول. خوا کښې د کهجورو يوه ټوکرے وه. د هغے نه کهجورے خوړے. تر دے پورے د حديث په لټون کښې د غور کولو په وجه د کهجورو ټوکرئ ئے

ی کړه او هله ددے احساس اوشو چه کله حدیث ملاؤ شو. او هغوی راتاؤ شو په ټوکرئ ئے نظر وغورځوو د زیاتو کهجورو د خوراک په وجه هغوی بیمار شو. او په هغه بیمارئ کښې د اتوار په ماښام ۲۴ رجب په ۲۶۱ھ وفات شو.

ابوحاتم رازیؒ فرمائی د وفات نه وروستو ما امام مسلمؒ په خوب کښې اولیدۀ او حال م ترے اوتپوسۀ. هغوی اوفرمایل "خدائے پاک خما دپاره د جنت هر یو ځائے جائز او مباح کړے دے. زۀ چه کوم ځائے غواړم اوسیږم"

دامام مسلم نور تصنیفونه:

د صحیح مسلم نه علاوه امام مسلم څو او ډیر فائده مند او معتمد کتابونه لیکلی دی. چه په هغے کښې د بعضو نومونه دادی. (۱) کتاب مسند کبیر (۲) کتاب الاسماء والکنی (۳) کتاب العلل (۴) کتاب العصیان (۵) کتاب حدیث عمر بن شعیب (٦) کتاب مشائخ مالکؒ (۷) کتاب مشائخ الثوریؒ (۸) کتاب اوهام المحدثین (۹) کتاب الطبقات وغیره.

بَاب تَغْلِيظِ الْكَذِبِ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ

عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ

عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ أَنَّهُ سَمِعَ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَخْطُبُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

باب په رسول الله ﷺ باندے دروغ ویل څومره لویه ګناه ده

امام مسلم ؒ اسناد سره روایت کړے دے د سمره بن جندب ؓ او مغیره بن شعبه ؓ نه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی (یعنی هغه حدیث کوم چه مخکښ تیر شو چه کوم سړے خمانه حدیث نقل کړی او هغه پوهیږی چه دا دروغ دے نو هغه پخپله دروغژن دے)[1]

دربعی بن حراش نه روایت دے هغه اوریدلی دی د حضرت علی ؓ نه چه هغه خطبه لوستله او ویل ئے چه فرمایلی دی رسول الله ﷺ دروغ مه

حدیث ته مشهور ویلے دے. ولے چه دا حدیث په مختلفو الفاظو کښ د متعدّد صحابه کرامو رضی الله عنهم نه روایت دے بزار په خپل مسند کښ بیان کړے دے چه د څلویښتو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه دا حدیث هغهٔ روایت کړے دے او ابوبکر صیرفی رحمه الله لیکلی دی چه هغه د شپیتهٔ صحابه رضی الله عنهم نه روایت دے. او ابن منده ویلی دی چه د اوو اتیا صحابوؤ رضی الله نه روایت دے. او بعضو ویلی دی چه د دوه شپیتهٔ صحابه ؤ رضی الله نه روایت کړے چه په هغے کښ عشره مُبشره هم دی. او یو حدیث علاوه ددے حدیث نه داسے نشته چه هغه ټولو عشره مبشره ؤ روایت کړے وی یا د شپیتو صحابه کرامو رضی الله نه زیاتو روایت کړے وی او بعضو دے حدیث ته متواتر ویلے دے او بعضو ویلی دی چه دا حدیث د دوه سوه صحابه کرامو نه منقول دے. او بخاری رحمه الله او مسلم رحمه الله دواړو نقل کړے دے دے حدیث لره

[1] ددے حدیث نه څو خبرے معلومیږی. یوه دا چه په حضور صلی الله علیه وسلم باندے دروغ ویل حرام او ګناه کبیره ده لکه څنګه چه په وړاندے روایتونو کښ دی چه څوک داسے کوی هغه خپل ځائے د اُوسیدو جهنم کښ جوړ وی نو ددے نه معلومه شوه چه هغه به ضرور جهنم ته داخلیږی. بیا کهٔ چرے مؤمن دے نو د جهنم نه به راأوځی ولے چه د خاوندانو د سنت اتفاق دے چه مواحد به همیشه په جهنم کښ نهٔ پاتے کیږی. اګر چه هر څومره ګنهګار وی. دویمه دا چه د کوم حدیث د دروغ کیدو ګمان وی هغے لره نقل کول هم درست نهٔ دی. البته چه هر کله د هغے سره دا خبره اُووائی یا اولیکی چه دا حدیث منکر دے یا ضعیف دے یا په دے کښ دا علت دے خو درست دے د محدثینو په نز باندے. ددے دپاره چه محدثینو په خپلو کتابونو کښ د تمام قسم حدیثونو لره بیان کړی دی. تر دے پورے چه موضوعاتو لره هم دریمه دا چه کهٔ د نقل کونکی په خیال کښ غلطی وی یعنی هغه د دروغو حدیث لره چه صحیح اوګڼړی او بیان ئے کړی نو په هغهٔ باندے ګناه نشته دے لکه څنګه چه حاکم رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله بعضو غلطو حدیثو لره په صحیح خیال باندے روایت کړی دی څلورمه دا چه هر قسم احادیث خواه احکام وی خواه فضائل یا په اخلاقو کښ په ټولو کښ دغه حکم دے او د کرامیه په نز په فضائلو او اخلاقو کښ حدیث جوړول درست دی او دا د هغوی انتهائی جهالت دے (نووی مع زیاده)

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَكْذِبُوا عَلَيَّ فَإِنَّهُ مَنْ يَكْذِبْ عَلَيَّ يَلِجِ النَّارَ

جوړوئ په ما باندے . څوك چه په ما باندے دروغ وائی هغهٔ به جهنم ته ځی[1]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّهُ لَيَمْنَعُنِي أَنْ أُحَدِّثَكُمْ حَدِيثًا كَثِيرًا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَعَمَّدَ عَلَيَّ كَذِبًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے هغهٔ فرمایلی دی ما د ډیرو حدیثونو بیانولو نه دا خبره منعه کوی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی کوم سړے چه په ما باندے قصدا دروغ وائی هغه خپل د اوسیدو ځائے په جهنم کښې جوړوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ

د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی: کوم سړے چه په ما باندے قصدا دروغ اُووائی هغه خان له د اوسیدو ځائے په جهنم کښې جوړ کړو

عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ أَتَيْتُ الْمَسْجِدَ وَالْمُغِيرَةُ أَمِيرُ الْكُوفَةِ قَالَ فَقَالَ الْمُغِيرَةُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ كَذِبًا عَلَيَّ لَيْسَ كَكَذِبٍ عَلَى أَحَدٍ فَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ و حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ السَّعْدِيُّ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قَيْسٍ الْأَسَدِيُّ عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ الْأَسَدِيِّ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ إِنَّ كَذِبًا عَلَيَّ لَيْسَ كَكَذِبٍ عَلَى أَحَدٍ

د علی بن ربیعه نه روایت دے هغهٔ ویلی دی چه زهٔ جماعت ته راغلم او په دغه ورځو کښې مغیره بن شعبهؓ د کوفے حاکم وو نو مغیرهؓ اوفرمایل چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی. چه فرمایلی دی چه په ما باندے دروغ ویل داسے نهٔ دی لکه په بل چا باندے دروغ ویل ولے په بل چا باندے د دروغ ویلو سره د دروغ ویونکی نقصان کیږی یا چه په چا پورے دروغ اوویلے شی د هغه هم او د دوؤ دریوؤ سړو په دروغو ویلو حضورﷺ باندے به تمام عالم گمراه شی او دُنیا ته به نقصان رسی بیا چه څوك په ما باندے دروغ وائی هغه خپل ځائے په جهنم کښې جوړوی

---

[1] یعنی د جهنم د تلو لائق شی اوس کچرے خدائے نے معاف کړی نو د جهنم نه به خلاص شی لکه تول په کبیره گناهونو کښې دے بعضو ویلی دی چه دا بد دُعا ده چه د دروغو حدیث جوړونکے د خدائے ء جهنم کښې داخل کړی

بَاب النَّهْيِ عَنْ الْحَدِيثِ بِكُلِّ مَا سَمِعَ

باب : اوریدلے خبره (بغیر د تحقیق نه) ویل منع دی

عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ

د حفص بن عاصمؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی سړی دپاره دومره دروغ هم کافی دی چه بیانوی هر هغه بے تحقیقه خبره چه اوری نی[1]

عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ ذَلِكَ

حفص بن عاصمؓ د ابوهریرهؓ نه بیان کوی چه هغوی د نبی کریمﷺ نه په دے شان بیان کړے دے.

عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِحَسْبِ الْمَرْءِ مِنَ الْكَذِبِ أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ

د ابو عثمان نهدی نه روایت دے چه حضرت عمرؓ ویلی دی پوره دی سړی لره دومره دروغ چه بیان کړی هغه خبره چه نے واؤری.

عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ لِي مَالِكٌ اعْلَمْ أَنَّهُ لَيْسَ يَسْلَمُ رَجُلٌ حَدَّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ وَلَا يَكُونُ إِمَامًا أَبَدًا وَهُوَ يُحَدِّثُ بِكُلِّ مَا سَمِعَ

د ابن وهبؒ روایت دے چه امام مالکؒ ماته اووے. اوپیژنه دے خبرے لره چه کوم سړے اووائی هغه چه واوری هغه نۀ شی بچ کیدے د (دروغونه) او چرته دغه سړے امام کیدے نۀ شی چه بیان کړی هرے یوے خبرے لره چه هغه دۀ اوریدلی وی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ بِحَسْبِ الْمَرْءِ مِنَ الْكَذِبِ أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے هغوی ویلی دی چه پوره دی سړی لره دومره دروغ چه څۀ واؤری او هغه اووائی.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ يَقُولُ لَا يَكُونُ الرَّجُلُ إِمَامًا يُقْتَدَى بِهِ حَتَّى يُمْسِكَ عَنْ بَعْضِ مَا سَمِعَ

عبد الرحمن بن مهدی (چه د حدیثو لوئے امام دے) هغوی ویلی دی چه سړے چرته هم امام نۀ شی جوړیدے (یعنی ددے لائق چه خلق ورپسے څی) تر دے پورے چه هغه اونۀ وائی بعضے خبرو لره چه هغے

[1] بغیر د تحقیق او تنقیح نه ددے دپاره چه دروغ وانی په خلاف واقعے بیانولو کنس بیا کچرے په قصدا داسے کار کوی نو گنهګار به وی گنی کنهګار بۀ نۀ وی ددے حدیث نه معلومه شوه چه دا عادت چه څۀ واؤری هغه اووانی بد دے بلکه تحقیق کول ضروری دی چه دا خبر رښتونے دے یا دروغ هر کله چه نے د رښتونے یقین وی نو دغه وخت کۀ نے د خلے نه اوباسی بده نۀ ده

لره دهٔ اوریدلے وی، په دے خیال سره چه شاید دا خبرے غلطے وی نو خما نه به دروغ ثابت شی:

عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ قَالَ سَأَلَنِي إِيَاسُ بْنُ مُعَاوِيَةَ فَقَالَ إِنِّي أَرَاكَ قَدْ كَلِفْتَ بِعِلْمِ الْقُرْآنِ فَاقْرَأْ عَلَيَّ سُورَةً وَفَسِّرْ حَتَّى أَنْظُرَ فِيمَا عَلِمْتَ قَالَ فَفَعَلْتُ فَقَالَ لِيَ احْفَظْ عَلَيَّ مَا أَقُولُ لَكَ إِيَّاكَ وَالشَّنَاعَةَ فِي الْحَدِيثِ فَإِنَّهُ قَلَّمَا حَمَلَهَا أَحَدٌ إِلاَّ ذَلَّ فِي نَفْسِهِ وَكُذِّبَ فِي حَدِيثِهِ

د سفیان بن حسین نه روایت دے چه ماته ایاس بن معاویه اووے: زهٔ گورم چه تهٔ ډیر محنت کوے د قرآن په حاصلولو کښ، یعنی په علم تفسیر کښ، تهٔ خما په مخکښ یو سورت اولوله او بیانے مطلب بیان کړه. ددے دپاره چه زهٔ ستا علم اوگورم. سفیان ویلی دی چه ما داسے اوکړل ایاس اووے یاد ساته څهٔ چه زهٔ وایمه تاته چه ځان ساته د شناعت نه په حدیث کښ، د شناعت معنی سپکوالے یعنی داسے حدیث مهٔ نقل کوه چه خلق تاته بد اُووائی او دروغجن د اوگنړی، ولے چه چا شناعت لره اختیار کړو. هغه پخپله ذلیل شو. او نورو ته هم دروغجن شو، یعنی د هغهٔ اعتبار ختم شو. اوس رښتونے خبره هم د هغهٔ دروغجنه گنړلے شی.

عَنْ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ قَالَ مَا أَنْتَ بِمُحَدِّثٍ قَوْمًا حَدِيثًا لاَ تَبْلُغُهُ عُقُولُهُمْ إِلاَّ كَانَ لِبَعْضِهِمْ فِتْنَةً

عبد الله ابن مسعود ویلی دی چه هر کله تهٔ خلقو ته داسے حدیث بیان کړے چه د هغوی په عقل کښ نهٔ راځی. نو د بعضو خلقو دپاره به په هغے کښ فتنه وی. یعنی هغه به گمراه کیږی. ددے دپاره هر سړی ته د هغهٔ د عقل مطابق خبره کول پکار دی.

بَاب النَّهْيِ عَنِ الرِّوَايَةِ عَنِ الضُّعَفَاءِ وَالِاحْتِيَاطِ فِي تَحَمُّلِهَا

باب: د ضعیفو خلقو نه روایت کول منع دی. او دَ روایت د تحمل په وخت احتیاط کول پکار دی[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ سَيَكُونُ فِي آخِرِ أُمَّتِي أُنَاسٌ يُحَدِّثُونَكُمْ مَا لَمْ تَسْمَعُوا أَنْتُمْ وَلاَ

د ابوهریرهٔ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه: خما د امت په آخر کښ به داسے خلق پیدا شی چه هغه به تاسو ته حدیثونه بیانوی چه هغه به نهٔ تاسو اوریدلی وی او نهٔ به ستاسو پلار نیکهٔ اوریدلی وی

---

[1] په بعضو نسخو کښ دے باب لره داسے لیکلے دے. بَاب فِي الضُّعَفَاءِ وَالْكَذَّابِينَ وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ حَدِيثِهِم یعنی باب ضعفاء او دُ کذبینو یعنی د دروغجنو په بیان کښ او د چا د حدیث نه چه نفرت کول پکار دی.

...باؤکُمْ فَإِيَّاكُمْ وَإِيَّاهُمْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ يَأْتُونَكُمْ مِنَ الْأَحَادِيثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوا أَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ فَإِيَّاكُمْ وَإِيَّاهُمْ لَا يُضِلُّونَكُمْ وَلَا يَفْتِنُونَكُمْ

عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبَدَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَتَمَثَّلُ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُونَ فَيَقُولُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ سَمِعْتُ رَجُلًا أَعْرِفُ وَجْهَهُ وَلَا أَدْرِي مَا اسْمُهُ يُحَدِّثُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ إِنَّ فِي الْبَحْرِ شَيَاطِينَ مَسْجُونَةً أَوْثَقَهَا سُلَيْمَانُ يُوشِكُ أَنْ تَخْرُجَ فَتَقْرَأَ عَلَى النَّاسِ قُرْآنًا

عَنْ طَاوُسٍ قَالَ جَاءَ هٰذَا إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَعْنِي بُشَيْرَ بْنَ كَعْبٍ فَجَعَلَ يُحَدِّثُهُ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ عُدْ لِحَدِيثِ كَذَا وَكَذَا فَعَادَ لَهُ ثُمَّ حَدَّثَهُ فَقَالَ لَهُ عُدْ لِحَدِيثِ كَذَا وَكَذَا فَعَادَ لَهُ. فَقَالَ لَهُ مَا أَدْرِي أَعَرَفْتَ حَدِيثِي

تاسو د هغوی نه خان اوساتی:[1]

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول ﷺ فرمایلی دی: په آخره زمانه کښې به دجّال یعنی د دروغو نه ربنتیا جوړولو والا او کذاب یعنی دروغ جوړونکی والا پیدا شی. هغه به داسے حدیثونه تاسو ته اوروی چه هغه به ستاسو پلار او نیکه هم نه وی اوریدلی. تاسو خان بچ ساتی: د هغوی نه داسے نه چه هغه تاسو لره گمراه کړی. او په آفت کښې مو اوغورځوی.

د عامر بن عبده نه روایت دے چه عبد الله بن مسعودؓ ویلی دی چه شیطان د یو سړی په شکل کښې د خلقو خواله راځی او بیا هغوی ته د دروغو حدیث بیانوی. هر کله چه خلق د دغه ځائے نه جدا کیږی نو په هغو کښې یو سړے وائی چه ما اوریدلی دی د یو سړی نه چه د هغهٔ شکل زهٔ پیژنم خو نوم ئے نهٔ راځی هغه داسے بیان کولو

دعبدالله بن عمروبن العاص نه روایت دے چه هغوی ویلی دی چه په دریاب کښې یعنی په سمندر کښې ډیر شیطانان دی چه هغه حضرت سلیمانؑ قید کړی دی نزدے ده چه هغه راووځی او خلقو ته قرآن اوروی.

د طاؤسؒ نه روایت دے چه بشیر بن کعب د ابن عباسؓ خواله راغے او هغهٔ ته ئے احادیث بیانول شروع کړل. ابن عباسؓ اووے چه فلانے حدیث بیا بیان کړه. هغهٔ بیا دوباره بیان کړو او اوئے ویل ماته معلومه نهٔ ده چه تا ټول حدیثونه څما او پیژندل او دا د منکر اوګنړو یا تمام حدیث د منکر اوګنړل او دے حدیث لره د لویړندو. ابن عباسؓ هغهٔ ته

[1] یعنی د هغوی په فریب کښې مهٔ راځئ او د حدیثو په بنهٔ شان سره جاج اخلئ: اُوس په دے زمانه کښې هم ډیر جاهلان فقیران او مولیان د خپلے خیرے د مضبوطولو دپاره بغیر سنده حدیثونه نقل کوی. په هغے اعتبار کول نهٔ دی پکار د کومے پورے چه هغه په صحیح کتابونو کښې میلاؤ نهٔ شی. د الله په فضل سره اُوس د صحاح ستّه ترجمه نزدے ټول په تولهٔ ده. عامو خلقو نه هم دا کتابونه فائده ورکولے شی.

كُلَّهُ وَأَنْكَرْتَ هٰذَا أَمْ أَنْكَرْتَ حَدِيثِي كُلَّهُ وَعَرَفْتَ هٰذَا فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّا كُنَّا نُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ لَمْ يَكُنْ يُكْذَبُ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَكِبَ النَّاسُ الصَّعْبَ وَالذَّلُولَ تَرَكْنَا الْحَدِيثَ عَنْهُ

اووے چه مونږ به د رسول الله ﷺ نه حديث نقل كول په هغه وخت چا د روغ نۀ شو ويلے په هغۀ باندے. بيا چه خلقو په ښو او بدو لارو تلل شروع كړل (يعنى تول قسم حديث صحيح او غلط نقل كول شروع شو نو مونږ حديث بيانول پريخودل.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا كُنَّا نَحْفَظُ الْحَدِيثَ وَالْحَدِيثُ يُحْفَظُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا إِذْ رَكِبْتُمْ كُلَّ صَعْبٍ وَذَلُولٍ فَهَيْهَاتَ

د ابن عباسؓ نه روايت دے چه مونږ حديث يادول او حديث د رسول الله ﷺ يادول پكار دى. ليكن هر كله چه تاسو په بده او ښۀ هر قسم لارو تلل شروع كړل نو اوس اعتبار ختم شو او لرے شو.

عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ جَاءَ بُشَيْرٌ الْعَدَوِيُّ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَجَعَلَ يُحَدِّثُ وَيَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا يَأْذَنُ لِحَدِيثِهِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ مَالِي لَا أَرَاكَ تَسْمَعُ لِحَدِيثِي أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَسْمَعُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّا كُنَّا مَرَّةً إِذَا سَمِعْنَا رَجُلًا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْتَدَرَتْهُ أَبْصَارُنَا وَأَصْغَيْنَا إِلَيْهِ بِآذَانِنَا فَلَمَّا رَكِبَ النَّاسُ الصَّعْبَ وَالذَّلُولَ لَمْ نَأْخُذْ مِنَ النَّاسِ إِلَّا مَا نَعْرِفُ

د مجاهد نه روايت دے بشير بن كعب عدوى د ابن عباسؓ خواله راغے او حديث بيانول ئے ورته شروع كړل او اونے ويل چه رسول الله ﷺ داسے فرمايلى دى. حضرت ابن عباسؓ ورته نۀ غوږ كيښودو او نۀ ئے ورته اوكتل. بشير اووے اے ابن عباس تاله څۀ شوى دى چه خما خبره نۀ اورے. زۀ حديث د رسول الله ﷺ نه بيانوم او تۀ ئے نۀ اورے. ابن عباسؓ اووے. يو خو هغه وختوو چه مونږ به د چا سړى نه دا واؤريدل چه رسول الله ﷺ داسے فرمايلى دى نو دغه وخت به مونږ د هغۀ طرفته اوكتل او غوږ به مو ورته كيښودو. بيا چه هر كله خلقو په ښۀ او بده لاره تلل شروع كړل (يعنى غلط روايتونه شروع شول) نو مونږ خلقو اوريدل پريخودل مگر كوم حديث چه پيژنو (او مونږ ته صحيح معلوميږى نو هغه آورو.

عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ كَتَبْتُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَسْأَلُهُ أَنْ يَكْتُبَ لِي كِتَابًا وَيُخْفِي عَنِّي فَقَالَ وَلَدٌ نَاصِحٌ أَنَا أَخْتَارُ لَهُ الْأُمُورَ اخْتِيَارًا وَأُخْفِي عَنْهُ

د ابن ابى مُليكه نه روايت دے چه ما ابن عباس ته اوليكل چه خما دپاره يو كتاب اوليكه او پټے م كړے (هغه خبرو لره چه په هغے كښ كلام دے دے دپاره چه جګړه اونۀ شى) ابن عباسؓ اووے هلكه (ښه) نصيحت كوے (يعنى ابن ابى مليكه ته ئے اووے زۀ به دده دپاره

قَالَ فَدَعَا بِقَضَاءِ عَلِيٍّ فَجَعَلَ يَكْتُبُ مِنْهُ أَشْيَاءَ وَيَمُرُّ بِهِ الشَّيْءُ فَيَقُولُ وَاللهِ مَا قَضٰى بِهٰذَا عَلِيٌّ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ ضَلَّ

وانږوم خبرو لره او پټے به کړم کومے چه د پټولو خبرے دی[1] بیا هغوی د حضرت علیؓ فیصلو لره را اوغوښتے د هغے نه ئے څه خبرے اولیکلے او بعضے فیصلے چه به ئے لیدے نو ویل به ئے قسم په خدائے چه حضرت علیؓ داسے فیصله نه ده کړے. او که چرته کړے ئے وی نو د هغهٔ به هیر شوی وی. یعنی غلطی شوے ده[2].

عَنْ طَاوُسٍ قَالَ أُتِيَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِكِتَابٍ فِيهِ قَضَاءُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَمَحَاهُ إِلَّا قَدْرَ وَأَشَارَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ بِذِرَاعِهِ

د طاؤسؒ نه روایت دے چه حضرت عباسؓ ته د حضرت علیؓ د فیصلو کتاب راغے. هغه تول وران کړو. مګر د یو لاس برابر ئے پریخودو (کومه فیصله چه صحیح وه). د دے دپاره هغهٔ ته معلومه شوه چه روایت د دے فیصلو صحیح نه دے.

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ لَمَّا أَحْدَثُوا تِلْكَ الْأَشْيَاءَ بَعْدَ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ عَلِيٍّ قَاتَلَهُمُ اللهُ أَيَّ عِلْمٍ أَفْسَدُوا

ابو اسحاق ویلی دی چه هر کله خلقو هغه خبرو لره د حضرت علیؓ نه پس رااویستے (یعنی دروغجن دروغجن اېتونه ئے د هغه نه شائع کړل) نو د حضرت علیؓ یو دوست اووے. خدائے د هغوی لره تباه کړی یا د په هغوی لعنت کړی څنګه ئے علم وران کړو (یعنی خلقو لره ئے ګمراه کړل او د حدیثو د علم ئے خانه برباد کړه)

عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ قَالَ سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ

د ابو بکر بن عیاشؒ روایت دے چه ما د مغیرهؒ نه اوریدلی دی. هغه

---

[1] دا ترجمه هر کله ده چه په دے روایت کښ يُخفى او أخفِي خائے د معجمه نهٔ وی لکه څنګه چه په اکثرو نسخو کښ دے او په بعضے نسخو کښ دا دواړه خائے د حطی نه دی. په دے صورت کښ به ترجمه داسے وی چه کمے کړه هغه خرو لره کومے چه د کمی قابلے دی یعنی ډیر اوږد کتاب مهٔ لیکه. مختصر اولیکه. او حضرت عباس رضی الله عنه هم داسے ویلی دی چه کم به ئے کړمه زهٔ. یعنی په معنو کښ دَ عَلیّ دے یعنی ما دا خواهش کړے وو چه ښهٔ په ښهٔ شان ئے أولیکه او ابن عباس رضی الله عنه هم داسے اووے چه زهٔ به ئے ښهٔ انتخاب أوکړمه د حدیثو او په ښهٔ شان به دے لره اولیکمه

[2] هر کله چه د حضرت علی رضی الله عنه چه د خلفائے راشدینو نه دے. او د رسول الله صلی الله علیهوسلم عزیز او ملګرے او د علم دریاب وو د هغهٔ په فیصلو کښ غلطی وه. نو د عالمانو او مولیانو تول حُکم څنګه صحیح کیدے شی بعضو ویلی دی چه د ابن عباس رضی الله عنه مطلب دادے چه روایت غلط دے. او حضرت علی رضی الله عنه ګمراه نه وو نو هغه به دا فیصله ولے کړے وی

يقُولَ لَم يكُنْ يصْدُقُ عَلَى عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي الْحَدِيثِ عَنْهُ إِلاَّ مِنْ أَصْحَابِ عَبدِ اللهِ بنِ مَسعُودٍ

ویلی وو چه د حضرت علیؓ نه چه به کومو خلقو روایت کوو هغه روایت به نۀ منلے کیدو د کومے پورے چه به د عبد الله بن مسعودؓ ملګری د هغے تصدیق کړے نۀ وو.

بَاب بَيَانِ أَنَّ الإِسْنَادَ مِنَ الدِّينِ

باب :د حدیثو سند بیانول ضروری دی او هغه په دین کښې داخل دے

عَنْ مُحَمَّدِ بنِ سِيرِينَ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْعِلْمَ دِينٌ فَانْظُرُوا عَمَّنْ تَأْخُذُونَ دِينَكُمْ

محمد بن سیرینؒ (چه مشهور تابعی دے) ویلی دی چه دا علم دین دے نوګوره د کوم سړی نه به تۀ دین حاصلوے (یعنی د هر سړی به په دے کښې اعتبار نۀ کوے.مګر کوم چه رښتونے اودیندار او معتبروی دهغۀ نه علم دین حاصلول ضروری دی.

عَنِ ابنِ سِيرِينَ قَالَ لَمْ يَكُونُوا يَسْأَلُونَ عَنِ الإِسْنَادِ فَلَمَّا وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ قَالُوا سَمُّوا لَنَا رِجَالَكُمْ فَيُنْظَرُ إِلَى أَهْلِ السُّنَّةِ فَيُؤْخَذُ حَدِيثُهُمْ وَيُنْظَرُ إِلَى أَهْلِ الْبِدَعِ فَلَا يُؤْخَذُ حَدِيثُهُمْ

ابن سیرینؒ ویلی دی چه په ورمبئ زمانه کښې به چا حدیث بیانوو نو د هغۀ نه به چا د حدیث تپوس نۀ کوو بیا چه هر کله فتنه خوره شوه (یعنی ګمراهی شروع شوه او بدعتونه د روافضو او خوارجو او مرجیؤو او قدریؤو شائع شول نو خلقو اووے چه خپل خپل سند بیان کړئ ګورو کچرے روایت کونکے اهل سنت وی نو د هغۀ روایت به قبول شی. او کوم چه بدعتیان دی د هغوی روایت به نۀ قبلیږی.

عَنْ سُلَيْمَانَ بنِ مُوسٰى قَالَ لَقِيتُ طَاوُسًا فَقُلْتُ حَدَّثَنِي فُلَانٌ كَيْتَ وَكَيْتَ قَالَ إِنْ كَانَ صَاحِبُكَ مَلِيًّا فَخُذْ عَنْهُ

سلیمان بن موسیٰ ویلی دی زۀ د طاؤس سره میلاؤ شومه او ما اووے چه فلانی سړی ماته دا حدیث په داسے داسے طریقه بیان کړو. هغوی اووے کۀ چرے هغه معتبر دے (یعنی کۀ د هغۀ په امانت او دیانت باندے اعتماد کیدے شی. لکه څنګه چه دمالداراو بنۀ معاملے والا خبرے اعتبار وی، نو د هغۀ نه حدیثو لره روایت کړه.

عَنْ سُلَيْمَانَ بنِ مُوسٰى قَالَ قُلْتُ لِطَاوُسٍ إِنَّ فُلَانًا حَدَّثَنِي بِكَذَا وَكَذَا قَالَ إِنْ كَانَ

سلیمان بن موسیٰ ویلی دی چه ما طاؤس ته اووے چه فلانی سړی ماته داسے اوداسے حدیث بیان کړے دے نو هغوی اوفرمایل کۀ

صاحِبُكَ مَلِيًّا فَخُذْ عَنْهُ

چرے ستا ملګرے معتبر دے نو د هغهٔ نه حدیث روایت کوه.

عَنِ ابْنِ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَدْرَكْتُ بِالْمَدِينَةِ مِائَةً كُلُّهُمْ مَأْمُونٌ مَا يُؤْخَذُ عَنْهُمُ الْحَدِيثُ يُقَالُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهِ

ابو الزناد (چه د هغهٔ نوم عبدالله بن ذکوان دے او هغه د حدیثو امام وو) ویلی دی چه ما په مدینه کښې سل سړی اوموندل چه ټول ښهٔ وو. مګر د هغوی نه د حدیثو روایت نهٔ شو کیدلے خلقو به وے چه دوی دد ے لائق نهٔ دی[1].

عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ يَقُولُ لَا يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا الثِّقَاتُ

د سعد بن ابراهیم نه روایت دے نهٔ شی قبلیدے حدیث د رسول الله ﷺ مګر د معتبرو خلقو نه (چه د هغوی په روایت باندے اعتماد کیدے شی)

عَنْ عَبْدَ اللهِ بْنَ الْمُبَارَكِ يَقُولُ الْإِسْنَادُ مِنَ الدِّينِ وَلَوْلَا الْإِسْنَادُ لَقَالَ مَنْ شَاءَ مَا شَاءَ

عبد الله بن مبارك ویلی دی چه اسناد په دین کښې داخل دی که چرے سندونه نهٔ وے نو هر سړی چه څهٔ غوښتل هغه به ئے ویل او پخپله خبره به چلیدو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْقَوَائِمُ يَعْنِي الْإِسْنَادَ

عبد الله بن مبارك ویلی دی چه زمونږ او د خلقو په مینځ کښې خپے دی یعنی سندونه (څنګه چه څناور بغیر د خپو نه اودریدے نهٔ شی دغه شان احادیث بغیر د سندونو نه راتولیدے نهٔ شی.

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ إِبْرَاهِيمَ بْنَ عِيسَى الطَّالَقَانِيِّ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْحَدِيثُ الَّذِي جَاءَ إِنَّ مِنَ الْبِرِّ بَعْدَ الْبِرِّ أَنْ تُصَلِّيَ لِأَبَوَيْكَ مَعَ صَلَاتِكَ وَتَصُومَ لَهُمَا مَعَ صَوْمِكَ قَالَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ يَا أَبَا إِسْحٰقَ عَمَّنْ هٰذَا قَالَ

ابو اسحاق (چه د هغهٔ نوم ابراهیم بن عیسیٰ طالقانی دے) ویلی دی چه ما عبد الله بن مبارك ته اووے چه اے ابو عبد الرحمان دا حدیث څنګه دے کوم چه روایت کړے شوے دے د رسول الله ﷺ نه د نیکئ نه پس دویمه نیکی داده چه ته مونځ کوه د خپله مانځهٔ نه پس د خپل پلار مور دپاره. او روژه نیسه د هغوی دپاره د خپلے روژے سره. هغوی اووے اے ابو اسحاق ! دا حدیث څوك

---

[1] یعنی اګر چه هغه خلق دینداره وو. مګر د حدیثو د قبلیدو دپاره نور شرطونه هم دی. یعنی ضروری دی. لکه حفظ او اتقان او معرفت فقط زُهد او ریاضت کافي نهٔ دے. دد ے وجے نه ئے د هغوی نه روایت نهٔ کولو او نهٔ د روایت اهل ګنړلے شو

قُلْتُ لَهُ هذا مِنْ حَدِيثِ شِهَابِ بْنِ خِرَاشٍ فَقَالَ ثِقَةٌ عَمَّنْ قَالَ قُلْتُ عَنْ الْحَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ قَالَ ثِقَةٌ عَمَّنْ قَالَ قُلْتُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَبَا إِسْحَقَ إِنَّ بَيْنَ الْحَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ وَبَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَفَاوِزَ تَنْقَطِعُ فِيهَا أَعْنَاقُ الْمَطِيِّ وَلَكِنْ لَيْسَ فِي الصَّدَقَةِ اخْتِلَافٌ

روایت کوی؟ ما اووے شهاب بن خراش هغوی اووے هغه خو ثقه دے (معتبر) بیانے هغه د چا نه روایت کړے دے ما اووے د حجاج بن دینار نه هغهٔ اووے هغه هم ثقه دے. بیانے اووے هغه د چا نه روایت کوی؟ ما اووے هغه وائی چه رسول الله ﷺ داسے فرمایلی دی عبد الله اووے اے ابو اسحاق! اوس خو د حجاج نه واخله د رسول الله ﷺ پورے دومره لوئے لوئے ځنګلونه پاتی دی چه په هغے د تلولو دپاره د اوښانو څټونه ستړی شی. البته په صدقه ورکولو د چا څهٔ خلاف نشته[1].

بَابُ الْكَشْفِ عَنْ مَعَايِبِ رُوَاةِ الْحَدِيثِ وَنَاقِلِي الْأَخْبَارِ وَقَوْلِ الْأَئِمَّةِ فِي ذٰلِكَ

باب: د حدیث د راویانو عیب بیانول صحیح دی اوهغه په غیبت کښ داخل نهٔ دی. ولے چه د دین ضرورت دے. لکه د ګواهانو حال بیانول چه صحیح دی. اود حدیثو امامانو داسے ویلی دی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ يَقُولُ عَلَى رُءُوسِ النَّاسِ دَعُوا حَدِيثَ عَمْرِو بْنِ ثَابِتٍ فَإِنَّهُ

عبد الله بن مبارك به د خلقو په مخکښ ویل چه پریږدئ روایت کول د عمرو بن ثابت نه ولے چه هغه به بدویل ورمبو بزرګانو ته

---

[1] یعنی حجاج خو د تبع تابیعینو نه دے خو ادنی درجه داده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پورے دوه راویان نور دی چه د هغوی پته نشته بیا حدیث منقطع شو او هغه ځنګه قبلیدے شی. د لویو لویو ځنګلو نه دا غرض دے چه څهٔ راویان ورک شوی دی چه دهغوی معلومول ضروری دی. نو حدیث اوس د اعتبار پاتے نهٔ شو. مګر د چا زړهٔ چه غواړی د خپل پلار مور د طرفه د خیرات کوی نو د هغے ثواب د ټولو علماؤ په نز رَسی. ولے چه د صدقے ثواب مړی ته باالاتفاق رَسی. البته په مونځ روژه او عبادت بدَنیه کښ اختلاف دے. نو د شافعی رحمه الله او جمهور علماؤ مذهب دادے. چه دد ے ځیزونو ثواب مړی ته نهٔ رَسی مګر په کوم صورت کښ چه په مړی باندے روژے واجب وی او د هغهٔ وارث د هغهٔ د طرفنه قضاء اونیسی نو ادا کیږی او یو قول دادے چه نهٔ ادا کیږی او د علماؤ د یو ټولی مذهب دادے چه مړی ته د تمامو عباداتو ثواب رسیدے شی لکه مونځ روژه، دُعا، تلاوت قرآن وغیره. او د عطاء بن ابی رباح او اسحاق بن راهویه دا قول دے (نووی)

كَانَ يَسُبُّ السَّلَفَ

عَنْ أَبِي عَقِيلٍ صَاحِبُ بُهَيَّةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ الْقَاسِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ فَقَالَ يَحْيَى لِلْقَاسِمِ يَا أَبَا مُحَمَّدٍ إِنَّهُ قَبِيحٌ عَلَى مِثْلِكَ عَظِيمٌ أَنْ تُسْأَلَ عَنْ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ هٰذَا الدِّينِ فَلَا يُوجَدَ عِنْدَكَ مِنْهُ عِلْمٌ وَلَا فَرَجٌ أَوْ عِلْمٌ وَلَا مَخْرَجٌ فَقَالَ لَهُ الْقَاسِمُ وَعَمَّ ذَاكَ قَالَ لِأَنَّكَ ابْنُ إِمَامَيْ هُدًى ابْنُ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ قَالَ يَقُولُ لَهُ الْقَاسِمُ أَقْبَحُ مِنْ ذَاكَ عِنْدَ مَنْ عَقَلَ عَنِ اللهِ أَنْ أَقُولَ بِغَيْرِ عِلْمٍ أَوْ آخُذَ عَنْ غَيْرِ ثِقَةٍ قَالَ فَسَكَتَ فَمَا أَجَابَهُ

د ابوعقیل (یحیٰی بن متوکل ضریر) نه روایت دے چه صاحب وو د بهیه (بهیه د یوے ښځے نوم دے. چه د عائشۍ نه روایت کوی ابو عقیل د هغے مولا وو) چه زۀ د قاسم بن عبید الله بن عبد الله بن عمر سره ناست وم. هلته یحیٰی بن سعید هم وو.نو یحیٰی قاسم ته اووے اے ابو محمد ! ستا داسے سړی دپاره دا خبره ډیره بده ده چه ستا نه ددین د یوے مسئلے تپوس اوکړے شی او بیا تاته دهغے علم نۀ وی. نو د هغے جواب. قاسم اووے په څۀ وجه سره ؟ یحیٰی اووے ددے وجے نه چه تۀ ناست ئے د دوو لویو لویو رهنما امامانو یعنی د ابوبکر صدیقؓ او عمرؓ سره (قاسم د حضرت ابوبکرؓ نمسے او د حضرت عمرؓ نمسے یعنی د خوئ خوے وو. ولے چه د قاسم مور ام عبید الله ده چه خوی دے د قاسم بن محمد بن ابی بکر صدیقؓ. قاسم اووے ددے نه هم زیاته دا خبره بده ده. د هغه سړی په نز چه هغۀ لره خدائے عقل ورکړے دے. چه زۀ اوکړم یو خبره او د هغے ماته علم نۀ وی. یا دداسے سړی نه روایت اوکړم چه هغه معتبر نۀ وی په دے اوریدو سره یحیٰی چپ شو او جواب ئے ورنکړو[1].

---

[1] یحیٰی قاسم ته غیرت ورکړۀ چه ستا دواړه نیکونه د دین دومره لوئے امامان وو. تۀ د هغو نمسے ئے تاله هم پکار دی چه تۀ علم حاصل کړے او حدیث جمع کړے او د هرے مسئلے جواب ستا سره وی. لیکن قاسم هغۀ ته جواب ورکړو چه یحیٰی سوا د چُپ کیدو نه نور څۀ نۀ شو ویلے. د ضبط او اتقان سره لږ علم د طوفان بے تمیزه نه غوره دے. د هرے مسئلے جواب خو د چا سره هم ممکن نۀ دے. لویو لویو مجتهدینو او علماؤ په ډیرو مسائلو کښې سکوت کړے دے. په دے روایت کښې یحیٰی بن متوکل چه د هغۀ کُنیت ابوعقیل ده ضعیف دے. جرح کړے ده په دۀ باندے یحیٰی بن معین او علی بن مدینی او

عَنْ أَبِي عَقِيلٍ صَاحِبِ بُهَيَّةَ أَنَّ أَبْنَاءً لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ سَأَلُوهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ فِيهِ عِلْمٌ فَقَالَ لَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَاللهِ إِنِّي لَأُعْظِمُ أَنْ يَكُونَ مِثْلُكَ وَأَنْتَ ابْنُ إِمَامَيِ الْهُدَى يَعْنِي عُمَرَ وَابْنَ عُمَرَ تُسْأَلُ عَنْ أَمْرٍ لَيْسَ عِنْدَكَ فِيهِ عِلْمٌ فَقَالَ أَعْظَمُ مِنْ ذَلِكَ وَاللهِ عِنْدَ اللهِ وَعِنْدَ مَنْ عَقَلَ عَنِ اللهِ أَنْ أَقُولَ بِغَيْرِ عِلْمٍ أَوْ أُخْبِرَ عَنْ غَيْرِ ثِقَةٍ قَالَ وَشَهِدَهُمَا أَبُو عَقِيلٍ يَحْيَى بْنُ الْمُتَوَكِّلِ حِينَ قَالَا ذَلِكَ

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ سَأَلْتُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيَّ وَشُعْبَةَ وَمَالِكًا وَابْنَ عُيَيْنَةَ عَنِ الرَّجُلِ لَا يَكُونُ ثَبْتًا فِي الْحَدِيثِ فَيَأْتِينِي الرَّجُلُ فَيَسْأَلُنِي عَنْهُ قَالُوا أَخْبِرْ عَنْهُ أَنَّهُ لَيْسَ بِثَبْتٍ

د ابو عقیل نه روایت دے چه د بهیه ملګرے وو. چه د عبد الله بن عمرؓ د یو خوی نه د څهٔ خبرے تپوس اوشو د هغې جواب هغهٔ ته نهٔ ورتلو. سعید هغهٔ ته اووے چه دا امر په ما باندے ډیر سخت تیر شو چه ستا غوندے سړے چه خوی دے د دوولویو امامانو یعنی د حضرت عمرؓ او عبد الله بن عمرؓ چه د دوی نه د څهٔ خبرے تپوس اوشی او دوی ئے او نهٔ ښائی. هغوی اووے په خدائے م د قسم وی، چه دد ے نه زیات خدائے ته بَرَدے او هغه چا ته بَرَدے چه هغوی له خدائے پاك عقل ورکړے وی چه زهٔ اووایم او ماته علم نهٔ وی یا روایت اوکړم دداسے سړی نه چه هغه ثقه نهٔ وی. سفیان اووے یحیٰی بن متوکل یعنی ابو عقیل دد ے خبرو اترو په وخت باندے موجود وو.

یحیٰی بن سعید وئیلی دی ما د سفیان ثوری او شعبه او مالك او ابن عیینه نه تپوس اوکړو (چه د حدیثو لوئے امام وو) کچرے یو سړے معتبر نهٔ وی د حدیث ؤ روایت کښی او څوك د هغهٔ د حال زمانه تپوس اوکړی. (نو زهٔ د هغهٔ عیب بیان کړم او که پټ ئے کړم) هغو تولو اووے چه بیان کړه چه دا سړے معتبر نهٔ دے. او دد ے په بیانولو کښی د غیبت ګناه نشته بلکه اجر دے. ولے چه نیت په

عمرو بن علی او عثمان بن سعید دارمی او ابن عمّار او نسائی. او بیا مسلم چه کوم ددهٔ نه روایت کړے دے د هغې جواب په دوه قسمه دے. یو دا چه دا راوی شاید د مسلم په نز باندے ثقه وی. ولے چا چه جرح کړیده هغه شکمنه ده. او د کومے پورے چه د جرحے وجه بیان نهٔ شی. نو هغه د قبلیدو لائق نهٔ وی. دویمه دا چه مسلم دے روایت لره په طور د امداد او استشهاد بیان کړے دے او هغه مقصود بالذّات نهٔ وے (نووی)

عَنِ النَّضْرِ بْنِ شُمَيْلٍ يَقُولُ سُئِلَ ابْنُ عَوْنٍ عَنْ حَدِيثٍ لِشَهْرٍ وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى أُسْكُفَّةِ الْبَابِ فَقَالَ إِنَّ شَهْرًا نَزَكُوهُ إِنَّ شَهْرًا نَزَكُوهُ قَالَ مُسْلِمٌ رَحِمَهُ اللهُ يَقُولُ أَخَذَتْهُ أَلْسِنَةُ النَّاسِ تَكَلَّمُوا فِيهِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ قَالَ قُلْتُ لِسُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ إِنَّ عَبَّادَ بْنَ كَثِيرٍ مَنْ تَعْرِفُ حَالَهُ وَإِذَا حَدَّثَ جَاءَ بِأَمْرٍ عَظِيمٍ فَتَرَى أَنْ أَقُولَ لِلنَّاسِ لَا تَأْخُذُوا عَنْهُ قَالَ سُفْيَانُ بَلَى قَالَ عَبْدُ اللهِ فَكُنْتُ إِذَا كُنْتُ فِي مَجْلِسٍ ذُكِرَ فِيهِ عَبَّادٌ أَثْنَيْتُ عَلَيْهِ فِي دِينِهِ وَأَقُولُ لَا تَأْخُذُوا عَنْهُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى شُعْبَةَ فَقَالَ هَذَا عَبَّادُ بْنُ كَثِيرٍ فَاحْذَرُوهُ

عَنِ الْفَضْلِ بْنِ سَهْلٍ قَالَ سَأَلْتُ مُعَلَّى الرَّازِيَّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعِيدٍ الَّذِي رَوَى عَنْهُ

خیر ددین حفاظت منظور دے نهٔ دد غه سړی سپکوالے[1].

د نظر بن شمیل نه روایت دے چه د ابن عون نه چا تپوس اوکړو د شهر بن حوشب د حدیث او هغه ولاړ وو د دروازے په چوکاټ باندے. هغهٔ اووے چه شهر خلقو پریخودے دے. مسلم ویلی دی د پریخودلو نه مطلب دادے چه خلقو په دے کښې خبرے اوکړے او د هغو په حق کښې ئے جرح او طعن اوکړو.

عبد الله بن مبارک ویلی دی چه ماد سفیان ثوری ؒ نه تپوس اوکړو. چه تاته د عباد بن کثیر د حال پته ده هر کله چه حدیث بیانوی نو یو لوی کار 'نااشنا خبرے کوی' راوړی نو ولے ستا دا رائے ده چه زهٔ خلقو ته اویم چه ددهٔ نه روایت مهٔ کوئ. سفیان ؒ اوویل آو اووایه عبد الله اوویل په کوم مجلس کښې چه به زهٔ یم او د عباد بن کثیر ذکر به راشی نو زهٔ به د هغهٔ د دیانتدارئ تعریف کوم خو دا به وایم چه ددهٔ نه د حدیث روایت مهٔ کوئ[2].

عبد الله بن مبارک ؒ ویلی دی زهٔ د شعبه ؒ خواله لاړم. هغوی اووے دا عباد بن کثیر دے ددهٔ نه ځان ساته (یعنی په روایت کښې)

فضل بن سهل ؒ نه روایت دے ما د معلی رازی نه تپوس اوکړو د چا نه چه عباد بن کثیر روایت کوی. هغوی نقل کړے د عیسیٰ بن

---

[1] مګر ډیرو امامانو د شهر توثیق کړے دے. لکه امام احمد بن حنبل رحمه الله او یحییٰ بن معین احمد بن عبد الله عجلی ویلی دی چه هغه تابعی دے او ثقه دے او ابوزرعه ویلی دی. لَابَأْسَ بِهٖ او بخاری ویلی دی شهر حسن الحدیث او یعقوب بن شیبه ویلی دی شهر ثقه دے.

[2] دا عباد بن کثیر ثقفی بصری دے. دهٔ لره اهل حدیثو پریخے دے. امام احمد ویلی دی چه هغه د دروغو احادیث روایت کوی اګر چه دا سړے په ظاهری حال کښې مرد دیندار او صالح وو. خو د حدیثو په روایت کولو کښې ددهٔ پوهه نهٔ وه. هغه به غلط روایت لره د صحیح روایت نه تمیز نهٔ شو کولے.

عَبَّادٌ فَأَخْبَرَنِي عَنْ عِيسَى بْنِ يُونُسَ قَالَ كُنْتُ عَلَى بَابِهِ وَسُفْيَانُ عِنْدَهُ فَلَمَّا خَرَجَ سَأَلْتُهُ عَنْهُ فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ كَذَّابٌ

يونس نه هغوی ویلی دی چه زهٔ د عباد په دروازه کښ وم او سفیان ددهٔ سره وو. هر کله چه هغه بهر راووتو نو ما ترنه تپوس اوکړو د عباد په باره کښ. سفیان اووے هغه دروغجن دے.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمْ نَرَ الصَّالِحِينَ فِي شَيْءٍ أَكْذَبَ مِنْهُمْ فِي الْحَدِيثِ قَالَ ابْنُ أَبِي عَتَّابٍ فَلَقِيتُ أَنَا مُحَمَّدَ بْنَ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانِ فَسَأَلْتُهُ عَنْهُ فَقَالَ عَنْ أَبِيهِ لَمْ تَرَ أَهْلَ الْخَيْرِ فِي شَيْءٍ أَكْذَبَ مِنْهُمْ فِي الْحَدِيثِ قَالَ مُسْلِم يَقُولُ يَجْرِي الْكَذِبُ عَلَى لِسَانِهِمْ وَلَا يَتَعَمَّدُونَ الْكَذِبَ

محمد بن یحیٰی بن سعید قطان د خپل پلار نه اوریدلی دی (یحیٰی بن سعید قطان چه د حدیثو لوئے امام وو) هغهٔ به ویل مونږ نیکو سړو لره (یعنی درویشانو او صوفیانو لره) دومره دروغ په بل څهٔ کښ نهٔ وو لیدلی. څومره دروغ چه د حدیث په روایت کولو کښ مے اولیدل. ابن ابی عتاب ویلی دی چه زهٔ د محمد بن یحیٰی سره میلاؤ شوم او د هغو نه مې خبرے تپوس اوکړو. هغو د خپل پلار نه نقل اوکړو چه هغوی ویلی دی تهٔ به نیکو خلقو لره دومره دروغجن په بله خبره کښ اونهٔ مومے څومره چه د حدیثو په روایت کولو کښ. امام مسلم ددے تاویل دا کړے دے چه د دروغو حدیث د هغوی د ژبے نه اوځی لیکن هغه قصدا دروغ نهٔ وائی[1].

[1] ددے دپاره کهٔ چرے هغه قصدا غلط حدیث جوړوی. نو د هغوی نه به بل بدتر څوک وی. بیا به هغهٔ نیک څنګه پاتے شی. اکثر د زاهدانو او درویشانو روایتونه غلط او دروغ ختلی دی. او محدثینو د هغوی اعتبار نهٔ دے کړے. د هغے وجه دا معلومیږی چه دغه خلقو ته د عبادت او استغراق نه دومره فرصت نهٔ وو چهٔ هغوی حدیثو طرفته زیاته توجه کړے وے او هغه نے لټولے وے او د صحیح او غلط لره نے جدا کړے وے. هغه خلق زیات مینه ناک او سیدها ساده وو. چا چه به کوم حدیث د هغوی په مخکښ بیان کړو هغه به نے صحیح اوګڼړو او د هغے روایت کول به نے شروع کړو او د راویانو عیب او نقصان ته بهٔ نے خیال کم کوو. ددے ځائے نه دا خبره معلومه شوه چه زهد او ریاضت او درویشی او تقدس بل څیز دے او علم بل څیز دے. ؏ هر کسے را بهر کارے ساختند. بعضے حضرات داسے هم تیرشوی دی. چه هغه د زهد او درویشئ سره په ظاهری علومو کښ لوئے لیاقت او مهارت لرلو. لکه امام حسن بصری سفیان ثوری، عبد الله بن مبارک فضیل بن عیاض، وکیع بن الجراح راضی د شی الله دَ دوی نه دا د وراندینو خلقو حال دے. نو ورستو علماؤ لره هم دغه شان خیال کول پکار دی امام غزالی رحمه الله خه په علم کلام او حکمت او اُصولو کښ هغه لوئے کامل وو. د علم حدیث نه بالکل عاری وو. د هغهٔ په کتابونو کښ اکثر بے اعتباره حدیثونه دی.

عَنْ خَلِيفَةَ بْنِ مُوسَى قَالَ دَخَلْتُ عَلَى غَالِبِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ فَجَعَلَ يُمْلِي عَلَيَّ حَدَّثَنِي مَكْحُولٌ حَدَّثَنِي مَكْحُولٌ فَأَخَذَهُ الْبَوْلُ فَقَامَ فَنَظَرْتُ فِي الْكُرَّاسَةِ فَإِذَا فِيهَا حَدَّثَنِي أَبَانٌ عَنْ أَنَسٍ وَأَبَانٌ عَنْ فُلَانٍ فَتَرَكْتُهُ وَقُمْتُ

خليفه بن موسى وائى چه زهٔ د غالب بن عبيد الله خواله لاړم هغهٔ ماته ليکل شروع کړل حديث بيان کړو ماته مکحول په دے کښ هغهٔ ته متيازے وراغلے. هغه د متيازو کولو دپاره لاړو او ما د هغهٔ کتاب ته اوکتل په هغے کښ دا ليکلى وو حديث بيان کړو ماته ابان د انس نه او ابان د فلانى نه د دے په ليدو سره ما د دهٔ نه روايت کول پريخودل او پاسيدم لاړم.

وَسَمِعْتُ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيَّ يَقُولُ رَأَيْتُ فِي كِتَابِ عَفَّانَ حَدِيثَ هِشَامٍ أَبِي الْمِقْدَامِ حَدِيثَ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ هِشَامٌ حَدَّثَنِي رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ يَحْيَى بْنُ فُلَانٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قُلْتُ لِعَفَّانَ إِنَّهُمْ يَقُولُونَ هِشَامٌ سَمِعَهُ مِنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ فَقَالَ إِنَّمَا ابْتُلِيَ مِنْ قِبَلِ هَذَا الْحَدِيثِ كَانَ يَقُولُ حَدَّثَنِي يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدٍ ثُمَّ ادَّعَى بَعْدُ أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنْ مُحَمَّدٍ

امام مسلمؒ وائى چه اوريدلى دى ما د حسن بن على حلوانى نه هغه ويلى وو چه ما د عفان په کتاب کښ د هشام ابوالمقدام حديث اوليدو چه د عمر بن عبد العزيز نه روايت شوے دے. هشام اووے ماته يو سړى بيان کړے وو چه د هغهٔ نوم يحيىٰ وو د فلانى خوے هغهٔ د محمد بن کعب نه اوريدلے وو. ما عفان ته اووے خلق وائى چه هشام دا حديث پخپله د محمد بن کعب نه اوريدلى دے. عفان اووے هشام د دے حديث په وجه سره په آفت کښ پريوتے دے. اول ئے وے ما دا حديث د يحيىٰ نه اوريدلے دے. او هغهٔ د محمد نه بيائے اووے چه ما پخپله اوريدلے دے د محمد نه[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ جَبَلَةَ يَقُولُ قُلْتُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ مَنْ هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي رَوَيْتَ عَنْهُ حَدِيثَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو يَوْمُ الْفِطْرِ يَوْمُ الْجَوَائِزِ قَالَ سُلَيْمَانُ

عبد الله بن عثمان بن جبله وائى ما عبد الله بن مبارك ته اووے هغه څوك سړے دے چه د هغهٔ نه تا د عبد الله بن عمرو حديث روايت کړو عيد الفطر لره د جوائز په باب کښ. اووے (عبد الله بن مبارك) سليمان بن حجاج وويل اوګوره چه تا د هغهٔ نه څهٔ حاصل

---

[1] هشام دا د زياد أموى خوى دے. دهٔ ته محدثينو په دے وجه ضعيف ويلے دے کومه چه بيان شوه. مګر دا قدرے وجه ددهٔ د ضعيف کيدو دپاره پوره نه ده. ولے چه احتمال دے چه هغه اوريدلى دى د محمد نه او بيانے هير شوى دى. نو ګ يحيىٰ ء واسطه بيان کړے دے. بيا ورته ياد شوى دى چه ما خو د محمد نه اوريدلى دى. په دے کښ دا احتمال دے. او د حديثو اماماتو ته معلومه شوه. چه هشام د محمد نه نهٔ دى اوريدلى. د دے وجے نه د هغهٔ دروغ ښکاره شو.

بْنُ الْحَجَّاجِ انْظُرْ مَا وَضَعْتَ فِي يَدِكَ مِنْهُ

کړه (یعني هغه عمدا ثقه دے دا د هغهٔ تعریف دے[1]

قَالَ ابْنُ قُهْزَاذَ وَسَمِعْتُ وَهْبَ بْنَ زَمْعَةَ يَذْكُرُ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ الْمُبَارَكِ رَأَيْتُ رَوْحَ بْنَ غُطَيْفٍ صَاحِبَ الدَّمِ قَدْرِ الدِّرْهَمِ وَجَلَسْتُ إِلَيْهِ مَجْلِسًا فَجَعَلْتُ أَسْتَحْيِي مِنْ أَصْحَابِي أَنْ يَرَوْنِي جَالِسًا مَعَهُ كُرْهَ حَدِيثِهِ

ابن قهزاد وائي ما اوریدلی د وهب بن زمعه نه هغه روایت کوو د سفیان بن عبد الملك نه. چه عبد الله بن مبارك وائي چه ما روح بن عطیف اولیدو چه هغهٔ د درهم برابر د وینے حدیث روایت کړو[2] زهٔ په دغه مجلس کښ ناست وم. بیا زهٔ د خپلو دوستانو نه اوشرمیدم چه هغه څهٔ وائي. زهٔ چه ئے د هغوی سره ناست اولیدم. په دے وجه سره چه ددهٔ نه روایت کول مکروه ګنړلے شو[3].

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ابْنِ الْمُبَارَكِ قَالَ بَقِيَّةُ صَدُوقُ اللِّسَانِ وَلَكِنَّهُ يَأْخُذُ عَمَّنْ أَقْبَلَ وَأَدْبَرَ

عبد الله بن مبارك وائي بقیه بن ولید بن صائدین کعب کلاعي رښتونے دے. لیکن هغه روایت کوی د هر قسم خلقو نه (یعني ثقه او ضعیف نهٔ ګوری په دے وجه محدثینو هغهٔ ته هم ضعیف ویلے دے.

عَنِ الشَّعْبِيِّ يَقُولُ حَدَّثَنِي الْحَارِثُ الْأَعْوَرُ وَهُوَ يَشْهَدُ أَنَّهُ أَحَدُ الْكَاذِبِينَ

عامر بن شراحیل شعبي (چه د احادیثو امام دے) هغهٔ ویلی وو چه ماته حارث اعور حدیث بیان کړو او هغه یو دروغجن وو[4].

---

[1]: جوائز د جائزه جمع ده یعني ورکول او انعامات ، او هغه حدیث دا دے چه فرمایلی دی رسول الله صلی علیه وسلم هر کله چه د عید الفطر ورځ شی نو فرشتے په لارو کښ راشی او وائي اے مسلمانانو ځئ ! خپل پروردګار طرفته چه رحمت والا دے. حکم کوی د نیک کار بیا به دهغے بدله درکوی. د هغهٔ په حکم تاسو روژه اونیوه. او د خپل پروردګار وینا مو اومَنله. نو قبول کړئ خپلو خپلو ورکړو لره. بیا چه هر کله د اختر مونځ اوشی. نو اواز کونکے آواز اوکړی. اسمان ته لاړ شئ او د خپلو کورونو مرادونه اومومئ. ستاسو ګناهونه اوبخلے شول. او دے ورځے ته یومُ الجوائز وائي.

[2]: روح د زهری نه هغه د ابو سلمه رضی الله نه او هغه دابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړے دے چه رسول الله صلّی الله علیه وسلم فرمایلی دی کهٔ په چا د یو درهم برابر وینه لګیدلی وی او هغه مونځ اوکړی نو مونځ دِ بیا دوباره اوکړی. دا حدیث بخاری په خپل تاریخ کښ ذکر کړے دے او د محدِثینو په نز دا حدیث باطل او بے اصل دے.

[3]: ولے چه روح بن عطیف ضعیف دے. امام بخاری رحمه الله وائي چه هغه منکر الحدیث دے.

[4]: دا حارث خوئ دے د عبد الله یا د عبید الله . اعور ورته دد ے وجے نه وائي چه هغه کانړے وو. کنیت ددهٔ ابوزهیر دے. د کوفے اوسیدونکے مصاحب وو د حضرت علی رضی الله عنه. مګر دهٔ په حضرت علی رضی الله عنه باندے دروغ ویل شروع کړل او ډیر احادیث ئے غلط ملط روایت کړل. آخر د هغهٔ دروغ ښکاره شو. او مُحَدِّثینو هغه پریخودو صرف نسائي ددهٔ نه

عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قَالَ عَلْقَمَةُ قَرَأْتُ الْقُرْآنَ فِي سَنَتَيْنِ فَقَالَ الْحَارِثُ الْقُرْآنُ هَيِّنٌ الْوَحْيُ أَشَدُّ

ابراهیم نخعی (چه د حدیثو لوئے امام وو) روایت کوی چه علقمه (چه دعبد الله بن مسعود د صحبت ملگرے وو) وائی چه ما قرآن لره په دوه کاله کښې اولوستو . حارث اووے قرآن آسان دے لیکن وحی مشکله ده[1].

عَنْ إِبْرَاهِيمَ أَنَّ الْحَارِثَ قَالَ تَعَلَّمْتُ الْقُرْآنَ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ وَالْوَحْيَ فِي سَنَتَيْنِ أَوْ قَالَ الْوَحْيَ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ وَالْقُرْآنَ فِي سَنَتَيْنِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ أَنَّ الْحَارِثَ اتُّهِمَ

د ابراهیم نه روایت دے چه حارث اووے ما قرآن په درے کاله کښې ایزده کړو. او وحی لره په دوه کاله کښې. یائے اووے چه قرآن م په دوه کاله کښې او وحی لره م درے کاله کښې اولوسته ابراهیم اووے حارث تهمت دار دے (یعنی) هغه منسوب کړے شوے دے په دروغو اوبد مذهبئ سره.

عَنْ حَمْزَةَ الزَّيَّاتِ قَالَ سَمِعَ مُرَّةُ الْهَمْدَانِيُّ مِنَ الْحَارِثِ شَيْئًا فَقَالَ لَهُ اقْعُدْ بِالْبَابِ قَالَ فَدَخَلَ مُرَّةُ وَأَخَذَ سَيْفَهُ قَالَ وَأَحَسَّ الْحَارِثُ بِالشَّرِّ فَذَهَبَ

د حمزه زیات نه روایت دے چه مره حمدانی د حارث نه څۀ خبره واوریده نو دۀ ته ئے اووے چه په دروازه کښې کینه او مره دننه لاړو او توره ئے راواغسته (چه حارث قتل کړی) حارث څۀ یره محسوس کړه چه څۀ شر کیدونکے دے نو لاړۀ.

عَنِ ابْنِ عَوْنٍ قَالَ قَالَ لَنَا إِبْرَاهِيمُ إِيَّاكُمْ وَالْمُغِيرَةَ بْنَ سَعِيدٍ وَأَبَا عَبْدِ الرَّحِيمِ فَإِنَّهُمَا كَذَّابَانِ

د ابن عون نه روایت دے ابراهیم ویلی دی چه بچ شئ تاسو د مغیره بن سعید او عبد الرحیم نه هغه دواړه دروغجن دی[2].

دوه حدیثونه روایت کړی دی او دا هم ویلی شوی دی چه دا سړے د رافضیانو په مذهب وو دغسے د وراندے روایتونو نه معلومیږی

[1] دا روایت د حارث د بدمذهبئ ثبوت دے ولے چه هغه سیوا د قرآن دوحی نه نور څۀ ویلی دی لکه چه شیعه وائی الله تعالی دیرے راتلونکے خبرے او پټ رازونه حضرت صلی الله علیه وسلم ته ښودلی وو چه هغے لره حضرت خاص کر علی بن ابی طالب ته ښودلی دی او هغۀ ته خپل وصیت کړے وو.

[2] مغیره بن سعید کوفی نسائی په کتاب الضُعفا کښې وائی چه دا سړے دَجّال وو د نخعی په زمانه کښې په أور کښې سوزولے شوے وو. او هغه د نبوّت دعوه کړے وه. ابوعبدالرّحیم چه دهغه نو شفیق الضّبی دے کوم چه قاضی وو او بعضو ویلی دی چه د هغۀ نوم سلمه بن عبد الرّحمٰن نخعی دے او د دواړو کُنیت عبد الرّحیم دے او دواړه ضعیفان دی (نووی)

عَنْ عَاصِمٍ قَالَ كُنَّا نَأْتِي أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيَّ وَنَحْنُ غِلْمَةٌ أَيْفَاعٌ فَكَانَ يَقُولُ لَنَا لاَ تُجَالِسُوا الْقُصَّاصَ غَيْرَ أَبِي الأَحْوَصِ وَإِيَّاكُمْ وَشَقِيقًا قَالَ وَكَانَ شَقِيقٌ هٰذَا يَرَى رَأْيَ الْخَوَارِجِ وَلَيْسَ بِأَبِي وَائِلٍ

د حضرت عاصمؒ نه روایت دے چه مونږ دابو عبدالرحمٰن سلمٰی خواله تلل راتلل کول او په دغه زمانه کښ مونږ ځوانان هلکان وو (یعنی ځوانی ته نږدے وونو هغهٔ به مونږ ته ویل چه مهٔ کینئ د قصه خوانانو سره سوا دابوالاحوص نه او بچ شئ تاسو د شقیق نه او دے شقیق د خارجیانو په شان عقیده لرله اودا ابو وائل نهٔ دے[1].

عَنْ جَرِيرٍ يَقُولُ لَقِيتُ جَابِرَ بْنَ يَزِيدَ الْجُعْفِيَّ فَلَمْ أَكْتُبْ عَنْهُ كَانَ يُؤْمِنُ بِالرَّجْعَةِ

د جریر نه روایت دے چه زهٔ د جابر بن یزید جعفی سره میلاؤ شوم بیا ما ددهٔ نه احادیث نهٔ دی لیکلی. هغهٔ یقین د رجعت کوو[2].

عَنْ مِسْعَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا جَابِرُ بْنُ يَزِيدَ قَبْلَ أَنْ يُحْدِثَ مَا أَحْدَثَ

د مسعر نه روایت دے چه مونږ ته حدیث بیان کړی دی جابر بن یزید. د هغهٔ د نوے خبرے دراوتو نه مخکښ (یعنی بدمذهبیٔ نه وړاندے) ددے نه معلومه شوه چه وړمبے د جابر اعتقاد صحیح وو بیا وروستو فاسد شوے دے.

عَنْ سُفْيَانَ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَحْمِلُونَ عَنْ جَابِرٍ قَبْلَ أَنْ يُظْهِرَ مَا أَظْهَرَ فَلَمَّا أَظْهَرَ مَا أَظْهَرَ اتَّهَمَهُ النَّاسُ فِي حَدِيثِهِ وَتَرَكَهُ بَعْضُ النَّاسِ فَقِيلَ لَهُ وَمَا أَظْهَرَ قَالَ الإِيمَانَ بِالرَّجْعَةِ

د سفیان نه روایت دے چه وړاندے به خلقو د جابر نه احادیث روایت کول. هر کله چه هغه خپله اعتقاد ښکاره کړو نو خلقو دهٔ لره مهتم کړو په حدیث کښ او بعضو هغهٔ لره پریخو دو. خلقو اووے چه ددهٔ نه څهٔ بے اعتقادی معلومه شوه سفیان اووے چه په رجعت باندے یقین کول.

---

[1] ابووائل شفیق بل دے چه د سلمٰی زوی دے. او هغه د لویو تابعینو نهٔ دے. دا شفیق دغه دے ضبی کوفی چه ذکر ئے وړاندے تیر شو. او نسائی هغه ضعیف کړے دے. د هغهٔ کُنیت ابو عبد الرّحیم دے چه هغه لره یَرَولے دےابراهیم. او بعضو ویلی دی ابراهیم چه د چا نه یَرَولے دے د هغهٔ نوم سلمه بن عبد الرّحمٰن دے. دا ابن ابی حاتم د ابن مدینیٔ نه نقل کړے دے. (نووی)

[2] په دے وجه محدّثینو جابر بن یزید لره ضعیف کړے دے. او ویلی ئے دی چه هغه رافضی وو. د رجعت نه مراد دلته دادے چه د رافضیانو اعتقاد دے چه حضرت علی رضی الله عنه ژوندے دے. او برابر او سیږی هر کله چه د هغهٔ په اولاد کښ امام برحق پیدا شی. نو هغه به خپلو شیعه ګانو ته د وریځے نه آواز کوی چه د هغه سره شریک شئ. دا داسے خبره ده چه دے لره به یو د عقل خاوند هم قبوله نهٔ کړی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ يَزِيدَ يَقُولُ عِنْدِي سَبْعُونَ أَلْفَ حَدِيثٍ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهَا

جابر بن یزید جعفی ویلی دی زما سره اویا زره احادیث دی چه ه ما روایت کړی دی د ابو جعفر نه ربعنی د امام محمد باقر نه هغه د رسول الله ﷺ نه روایت کړی[1]

عَنْ زُهَيْرٍ يَقُولُ قَالَ جَابِرٌ أَوْ سَمِعْتُ جَابِرًا يَقُولُ إِنَّ عِنْدِي لَخَمْسِينَ أَلْفَ حَدِيثٍ مَا حَدَّثْتُ مِنْهَا بِشَيْءٍ قَالَ ثُمَّ حَدَّثَ يَوْمًا بِحَدِيثٍ فَقَالَ هٰذَا مِنَ الْخَمْسِينَ أَلْفًا

د زهیرؒ نه روایت دے چه جابر ویلی وو چه زما سره پنځوس ز داسے حدیث دی چه هغه ما خلقو ته بیان کړی نه دی. بیانے ي ورځ حدیث بیان کړو او اُوئے وے چه دا د هغه پنځوس زره احادي نه دے.

عَنْ سَلَّامِ بْنِ أَبِي مُطِيعٍ يَقُولُ سَمِعْتُ جَابِرًا الْجُعْفِيَّ يَقُولُ عِنْدِي خَمْسُونَ أَلْفَ حَدِيثٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سلام بن ابی مطیع نه روایت دے چه ما اوریدلی دی جابر جعفی نه چه زما سره پنځوس زره احادیث دی رسول الله ﷺ نه.

عَنْ سُفْيَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَجُلًا سَأَلَ جَابِرًا عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتّٰى يَأْذَنَ لِي أَبِي أَوْ يَحْكُمَ اللهُ لِي وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ

د سفیان نه روایت دے چه ما اوریدلی دی چه یو سړی د جا جعفی نه تپوس اوکړو د دے آیت فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتّٰى يَأْذَنَ لِي أَبِي أَوْ يَحْكُمَ اللهُ لِي وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِينَ[2]

فَقَالَ جَابِرٌ لَمْ يَجِئْ تَأْوِيلُ هٰذِهِ قَالَ سُفْيَانُ وَكَذَبَ فَقُلْنَا لِسُفْيَانَ وَمَا أَرَادَ بِهٰذَا فَقَالَ إِنَّ الرَّافِضَةَ تَقُولُ إِنَّ عَلِيًّا فِي السَّحَابِ فَلَا نَخْرُجُ مَعَ مَنْ خَرَجَ مِنْ وَلَدِهِ

جابر اُووے د دے آیت مطلب اوس ظاهر نه شو. سفیان اووے جا د روغجن وو. حمیدی وائی (ځوک چه دا روایت د سفیان نه نقا کوی) چه مونږ خلقو د سفیان نه تپوس اوکړو. چه د جابر څهٔ غرض وو؟ هغهٔ اُووے رافضی خلق دا اعتقاد لری چه حضرت علیؓ

---

[1] دا کچرے محمد باقر د رسول الله ﷺ نه نهٔ وی اوریدلی نو دا ټول روایتونه منقطع شول. او دد ے روایتونو دویم روای کونکے جابر غوندے بد اعتقاد سړے. ددے وجے نه یقین کیدے شی. چه هغه ټول روایتونه دروغ او د جابر تراشلی شو دی چه هغے لره شیعه ګانو په خپلو کتابونو کښی روایت کړی دی.

[2] دا آیت په سورة یوسف کښی دے. هر کله چه یوسف علیه السلام خپل ورو کی ورور لره د غلا په بهانه سره اونیوو. نو مش رورنے چه د قافلے سره راغلے وو. اوویل چه زهٔ به دد ے ملک نه واپس نهٔ شم ترهغے پورے چه اجازت راکړی ما لره خما پلا یا الله خما دپاره فیصله اوکړی. او هغه د ټولو نه غوره فیصله کونکے دے.

حَتَّى يُنَادِيَ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ يُرِيدُ عَلِيًّا أَنَّهُ يُنَادِي اخْرُجُوا مَعَ فُلَانٍ يَقُولُ جَابِرٌ فَذَا تَأْوِيلُ هٰذِهِ الْآيَةِ وَكَذَبَ كَانَتْ فِي إِخْوَةِ يُوسُفَ

وریځ کښې دے او مونږ د هغهٔ په اولاد کښې د چا سره نهٔ اُوځو تردے پورے چه د اسمان نه حضرت علی آواز اوکړی چه اوځئ د دے سړی سره. جابر وائی د دے آیت تفسیر دادے. او د روغ ئے ویل دد ے دپاره چه دا آیت د یوسف د رونړو په قصه کښې دے[1].

عَنْ سُفْيَانَ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا يُحَدِّثُ بِنَحْوٍ مِنْ ثَلَاثِينَ أَلْفَ حَدِيثٍ مَا أَسْتَحِلُّ أَنْ أَذْكُرَ مِنْهَا شَيْئًا وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا

د سفیان نه روایت دے چه ما د جابر نه دیرش زره احادیث اوریدلی دی زهٔ حلال نهٔ گنړم دد ے نه یو حدیث بیانولو لره. اگر که ماته دا او دا میلاویږی یعنی که هر څومره دولت میلاویږی بیا هم زهٔ د ے حدیثو لره نقل نهٔ کوم. ځکه چه هغه تول دروغ وو.

عَنْ أَبِي غَسَّانَ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو الرَّازِيِّ قَالَ سَأَلْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ الْحَمِيدِ فَقُلْتُ الْحَارِثُ بْنُ حَصِيرَةَ لَقِيتَهُ قَالَ نَعَمْ شَيْخٌ طَوِيلُ السُّكُوتِ يُصِرُّ عَلَى أَمْرٍ عَظِيمٍ

ابی غسان محمد بن عمرو رازی ویلی دی ما د جریر بن عبد الحمید نه تپوس اوکړو چه تا حارث بن حصیره لیدلے دے؟ هغهٔ اووے آو یو بوډا وو. ډیر به خاموش اوسیدو. لیکن په ډیره لویه خبره باندے به ئے اصرار کوو[2].

عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ ذَكَرَ أَيُّوبُ رَجُلًا يَوْمًا فَقَالَ لَمْ يَكُنْ بِمُسْتَقِيمِ اللِّسَانِ وَذَكَرَ آخَرَ فَقَالَ هُوَ يَزِيدُ فِي الرَّقْمِ

حماد بن زید وائی چه ایوب سختیانی ابن ابی تمیمه کسان ابوبکر بصری چه ثقه ثبت او حجت فقیه عابد مشهور وو ویلے دی د یو سړی حال چه د هغهٔ ژبه صحیح نهٔ وه او بل دووم ته ئے اُووے چه هغه رقم زیاتوی[3].

---

[1] دد ے آیت په اول آخر کښې د هغه درونړو قصه ده. دا تفسیر چه جابر د عقل خلاف کړے دے کمزور او بے بنیاده دے رافضی خلق قرآن لره په دے شان بے ترتیبه آخوا دیخوا اُولی. اوغور نهٔ کوی.

[2] یعنی عقیده ئے د رافضیانو وه. په تقریب کښې دی چه حارث بن حصیره ازدی چه کُنیت ئے ابو نعمان دے د کوفے اوسیدونکے رښتونے دے مگر خطا کوی او نسبت ئے شوے دے طرف د رفض ته.

[3] اکثر د بے ایمانه سوداگرو عادت وی چه د کپړو په تهانونو باندے چه کوم د اخستو رقم لیکلے وی هغه زیاتوی دد ے دپاره چه اغستونکے ته دهوکه ورکړی او خپله منافع زیاته کړی. دلته مراد دادے چه په حدیث کښې زیاتے کول دا دواړه لفظ اشاره دی د دروغو دپاره یعنی دواړه دروغ او کذب وو.

عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ أَيُّوبُ إِنَّ لِي جَارًا ثُمَّ ذَكَرَ مِنْ فَضْلِهِ وَلَوْ شَهِدَ عِنْدِي عَلَى تَمْرَتَيْنِ مَا رَأَيْتُ شَهَادَتَهُ جَائِزَةً

د حماد بن زید نه روایت دے. ایوب ویلی دی زما یو ګاونډے دے. بیائے فضیلت بیان کړو (یعنی د هغهٔ د لیاقت او علم تعریف ئے اوکړو) او اُووے ویل کهٔ چرے هغه زما په مخکښ په دوو کجورو باندے ګواهی ورکړی نو د هغهٔ ګواهی ته صحیح نهٔ وایم

عَنْ مَعْمَرٍ مَا رَأَيْتُ أَيُّوبَ اغْتَابَ أَحَدًا قَطُّ إِلاَّ عَبْدَ الْكَرِيمِ يَعْنِي أَبَا أُمَيَّةَ فَإِنَّهُ ذَكَرَهُ فَقَالَ رَحِمَهُ اللَّهُ كَانَ غَيْرَ ثِقَةٍ لَقَدْ سَأَلَنِي عَنْ حَدِيثٍ لِعِكْرِمَةَ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ

د معمر نه روایت دے چه ما ایوب نه د چا بنده غیبت نهٔ دے اوریدلے مګر د عبد الکریم ابی المخارق، چه د هغهٔ کُنیت ابو اُمیه دے، ذکر کړے دے. هغوی د دهٔ ذکر اوکړو او وے ویل چه خدائے دِ په دهٔ رحم اوکړی، هغه ثقه نهٔ وو. یو ځلے ئے زمانه د عکرمه د یو حدیث تپوس اوکړو. بیائے اووے ما پخپله اوریدلے دے د عکرمه نه[1].

عَنْ هَمَّامٍ قَالَ قَدِمَ عَلَيْنَا أَبُو دَاوُدَ الأَعْمَى فَجَعَلَ يَقُولُ حَدَّثَنَا الْبَرَاءُ قَالَ وَحَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لِقَتَادَةَ فَقَالَ كَذَبَ مَا سَمِعَ مِنْهُمْ إِنَّمَا كَانَ ذَلِكَ سَائِلاً يَتَكَفَّفُ النَّاسَ زَمَنَ

د همام نه روایت دے. ابوداؤد ړوند (نفیع بن حارث) زمونږ خواله راغے او اُوئے ویل حدیث بیان کړی دی مونږ ته براء بن عازب او حدیث بیان کهٔ مونږ ته زید بن ارقم. مونږ قتاده ته ددے ذکر اوکړو هغهٔ اُووے دروغ وائی. دهٔ نهٔ دی اوریدلی د براء او د زید نه[2]. هغهٔ یو سوال کړے وو. د خلقو په مخکښ به ئے لاس خوروِل د سختے

---

[1] یعنی په دے کښ دا عیب دے چه دروغ وائی. نو ډاسے په وړه مقدمه کښ هم د هغهٔ اعتبار نهٔ شی کیدے. مګر صرف ددے خبرے نه د هغهٔ ضعف نهٔ شی ثابتیدے. شاید هغه د عکرمه نه اوریدلی وی او هیر شوی ئے وی. بیائے د ایوب نه اوریدلی وی او یاد شوی وی ورته او روایت ئے کړےوی. بیا په نورو قرینو سره د هغهٔ دروغ ثابت شوی دی او ضعیف کړے دے دے عبد الکریم لره سفیان بن عُیَینه او عبد الرّحمٰن بن مهدی او یحیٰی بن سعید القطان او احمد بن حنبل او ابن عدی او دا عبد الکریم د بصرے د فاضلانو او فقهاؤ نه وو (نووی) په تقریب کښ دی چه ددهٔ د پلار نوم قیس یا طارق وو او دا مکے ته راغلے وو او اوسیدو. ضعیف دے. بخاری ددهٔ نه په باب قیام الیل کښ یو زیادت نقل کړے دے. اونسائی ددهٔ نه روایت کړے دے مګر لږ.

[2] او هغه ویلی وو چه ما د اَتلسو بدری صحابؤ رضی الله عنهم نه اوریدلے دے. دا ابوداؤ په اتفاق د عالمانو ضعیف دے. عمرو بن علی ویلی دی هغه متروک دے. او یحیٰی بن معین او ابوزرعه ویلی دی چه هغه څهٔ څیز نهٔ دے. او ابو حاتم ویلی دی چه منکر الحدیث دے.

طَاعُونَ الْجَارِفِ | وبا، په زمانه کښې [1]

---

[1] دا وبا یعنی طاعون د یو قسم دانه وه. چه په هغې کښې به سوزیدل وو. او د دغې دانې نه به چاپیره سور والے یا تور والے یا شین والے خوریدو اودد ے سره به زړه درزیدو او قے یعنی اُلټئ به هم ورتلے. علماؤ ددۀ په زمانه کښې اختلاف کړے دے ابن عبد البر ویلی دی چه ایوب سختیانی ددغې طاعون په زمانه کښې مړ دے په ۱۳۲ھ کښې. او ابن قتیبه په معارف کښې د اصمعی نه نقل کړے دے. چه دا طاعون د عبد الله بن زبیر په زمانه کښې راغلے وو په ۶۷ھ کښې. او احتمال دے چه په دے ټولو کالونو کښې طاعون واقع شوے وو. او جارف ورته دد ے وجې نه وائی. چه د جارف معنی ده صفا کونکے اودے طاعون هم خلق صفا کړے وو. یعنی ډیر خلق ئے هلاک کړے وو. ابن قتیبه په معارف کښې د اصمی نه نقل کړے دے. چه د ټولو نه وړاند ے په اسلام کښې طاعون عمواس په شام کښې واقع شوے وو. د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې. او په دغې سره ابو عبیده بن الجراح او معاذ بن جبل او ددۀ بی بی او لور رضی الله عنهم وفات شوی وو بیا دویم طاعون جارف د عبد الله ان زبیر په زمانه کښې واقع شوے وو. بیا طاعون فتیات ولے چه دا واقع شوے وو په خوانانو ښځو باند ے. په بصره اوواسط او شام او کوفه کښې په دغه زمانه کښې حجاج ظالم په واسط کښې وو. د عبد الملک بن مروان په خلافت کښې. او دے ته طاعون اشراف هم وائی. ولے چه ډیر شریفان په دے طاعون سره هلاک شوی وو. بیا طاعون عدی بن ارطاة په ۱۰۰ھ کښې واقع شوے وو بیا طاعون غراب په ۱۲۷ھ کښې واقع شوے وو. بیا طاؤن مسلم بن قتیبه په ۱۳۱ھ کښې د شعبان او رمضان په میاشت کښې واقع شوے وو او د شوال په میاشت کښې موقوف شوے وو. او په دے کښې ایّوب سختیانی مړ وو. او په مدینه او مکه کښې څۀ طاعون واقع شوے نۀ وو. ابن قتیبه ویلی دی ابو الحسن مدائنی ویلی دی په اسلام کښې پنځه طاعونه مشهور دی یو طاعون شرویه چه په مدائن کښې راغلے وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې په ۶ھ کښې دویم طاعون عمواس چه د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې په شام کښې واقع شوے وو. په دے کښې پنځه ویشت زره کسان مړۀ وو. دریم طاعون جارف د عبد الله بن زبیر په زمانه کښې په ۶۹ھ کښې راغلے وو. په دے کښې به هره ورځ د دریو ورځو پورے اویازره کسان مړه کیدل د انس بن مالک په کښې درے اتیا یا درے اویا خامن مړۀ وو. او د عبد الرّحمن بن ابی بکر رضی الله عنه په کښې څلویښت خامن وفات شوی وو. څلورم طاعون فتیات چه په په ۸۷ھ کښې دوړوکی اختر په میاشت کښې واقع شوے وو پنځم طاعون په ۱۳۱ھ کښې واقع شوے وو درجب په میاشت کښې او سخت شو په رمضان کښې څۀ ورځې. په دے طاعون کښې به زرجنازے سکة المرید ته راتللے. بیا په وړوکی اختر کښې کم شو. او یو طاعون په کوفه کښې په ۵۰ھ کښې راغلے وو. چه پکښې مغیره بن شعبه وفات شوے وو. او طاعونِ عمواس په ۱۸ھ کښې واقع شوے وو او ابوزرعه ویلی دی چه په کال ۱۷ھ هجری کښې واقع شوے وو. او عمواس د یو کلی نوم دے. چه د رمله او بیت المقدس په مینځ کښې دے. نو د قتاده پیدائش په دغه کلی کښې په ۶۱ھ کښې او وفات دے په ۱۱۷ھ کښې شوے دے په دے صورت کښې قاضی عیاض چه کوم تاریخ د دغه طاعون په ۱۱۹ھ بیان کړے دے غلطیږی. او دلته کښې ضرور د دوو طاعونو نه یو طاعون مراد دے. یا د ۶۷ھ طاعون مګر دغه وخت د قتاده عمر صرف شپږ کاله راځی. یا د ۸۷ھ طاعون او هم دغه ظاهر دے. (نووی) طاعون همیشه څۀ د یو قسم نه وی. بلکه د بیمارانو یو عمر دے هره یوه بیماری د خپل خپل عمر پورے وی. ورمبۍ رو رو او لږ لږ ښکاره شي او بیا زور اونیسی او بیا په قلاره قلاره بالکل ددنیا نه

عَنْ هَمَّامٍ قَالَ دَخَلَ أَبُو دَاوُدَ الْأَعْمَى عَلَى قَتَادَةَ فَلَمَّا قَامَ قَالُوا إِنَّ هٰذَا يَزْعُمُ أَنَّهُ لَقِيَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ بَدْرِيًّا فَقَالَ قَتَادَةُ هٰذَا كَانَ سَائِلًا قَبْلَ الْجَارِفِ لَا يَعْرِضُ فِي شَيْءٍ مِنْ هٰذَا وَلَا يَتَكَلَّمُ فِيهِ فَوَاللّٰهِ مَا حَدَّثَنَا الْحَسَنُ عَنْ بَدْرِيٍّ مُشَافَهَةً وَلَا حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ بَدْرِيٍّ مُشَافَهَةً إِلَّا عَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ

د همام نه روایت دے چه ابوداؤد اعمٰی د قتاده خواله راغے. هر کله چه هغه پاسیدهٔ او لاړو. نو خلقو اُووے دے وائی چه زهٔ د اتلسو بدری صحابه کرامو سره ملاؤ شوے یم چه هغه د بدر په جنګ کښې شریک وو. قتاده اووے. دهٔ خو د طاعون جارف نه مخکښې سوال کؤو. ددهٔ د حدیث روایت کولو کله خیال وو. نهٔ دهٔ چرته په حدیث کښې خبرے کړے دی. قسم په خدائے چه حسن بصری (چه د ابوداؤد نه مشر او د حدیثو عالم وو) یو حدیث مونږ ته نهٔ دے بیان کړے چه د یو بدری صحابی نه اوریدلے. نهٔ سعید بن المسیب خو د بدری صحابی نه بیان کړے مګر د سعد بن مالك[1]

عَنْ رَقَبَةَ أَنَّ أَبَا جَعْفَرٍ الْهَاشِمِيَّ الْمَدَنِيَّ كَانَ يَضَعُ أَحَادِيثَ كَلَامَ حَقٍّ وَلَيْسَتْ مِنْ أَحَادِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ يَرْوِيهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رقبه بن مسقله بن عبد الله کوفی ویلی دی چه ابو جعفر هاشمی مدنی (چه نوم ئے عبد الله بن مسور مداینی دے) به د رښتیا رښتیا خبرونه حدیث جوړ وو او نقل کوو به ئے. حالانکه هغه به حدیث نهٔ وو او روایت کوؤ به ئے هغے له د رسول الله ﷺ نه[2]

ختمیږی په پخوا زمانه کښې به طاعوان تورات او په دانو سره راتلو. چیچك هم کچرے عامے شی نو ددے قسم نه بیا د نبی طاعون راخی. اوس زمونږ په زمانه کښې د سلو کالو راسے چه ډیارلس سوه اویوه هجری ده. طاعون د ټی او دست په خلفو راز . چه ورته هیضه وائی. دا بیماری اوس زور نیسی په ولایت هند او عرب او نورو ګرمو ملکونو کښې دا عارضه تقریبا هر کال خهٔ نه خهٔ وی د ۱۳۳۲ء په آخر کښې په ولایت مصر کښې په ډیره سخته سره شوے وو اوس ګورئ چه ددے عمر په دنیا کښې د کومے پورے دے.

[1] نو هر کله چه دے دواړو صاحبانو چه د ابوداؤد په نسبت په عُمر او علم کښې زیات وو چا بدری نه نهٔ وی اوریدلی. سوا د سعد بن مالک یعنی سعد بن ابی وقاص نه . نو ابوداؤد ولے د اتلسو صحابه کرامو نه واوریدو دا صرف بهتان او کذب دے د ابوداؤد . ددے خائے نه دا خبره معلومه شوه چه حسن بصری رحه الله د حضرت علی رضی الله عنه نه نهٔ اوریدلی دی او نهٔ ئے هغه لیدلے دے. او اکثر د اهل حدیثو په دے باندے اتفاق دے. او صوفیه رح سماع د حسن د حضرت علی رضی الله عنه نه بیانوی په دے بنا باندے د تصوّف سلسله قائموی.

[2] یعنی خبره به ئے رښتیا او د حکمت نقل کوله مګر غضب به ئے دا کوو چه هغے له به ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموٗده ویله.

عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ كَانَ عَمْرُو بْنُ عُبَيْدٍ يَكْذِبُ فِي الْحَدِيثِ

د یونس بن عبید نه روایت دے. چه عمرو بن عبید به په حدیثو کښې دروغ ویل[1].

عَنْ مُعَاذِ بْنِ مُعَاذٍ يَقُولُ قُلْتُ لِعَوْفِ بْنِ أَبِي جَمِيلَةَ إِنَّ عَمْرَو بْنَ عُبَيْدٍ حَدَّثَنَا عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا قَالَ كَذَبَ وَاللهِ عَمْرٌو وَلَكِنَّهُ أَرَادَ أَنْ يَحُوزَهَا إِلَى قَوْلِهِ الْخَبِيثِ

د معاذ بن معاذ نه روایت دے چه ما عوف بن ابی جمیله ته اُووے. چه عمر بن عبید مونږ ته حدیث بیانوی د حسن بصری نه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه څوک په مونږ پسے وسله اوچته کړی (یعنی د شرعی وجے نه بغیر د مسلمانانو قتل ته تیار شی) هغه زمونږ نه نهٔ دے. عوف ویلی دی چه قسم په خدائے عمرو دروغجن دے. د هغهٔ مقصد ددے حدیث د روایت کولو نه دا دے چه خپله گنده اعتقاد ددے نه ثابت کړی[2].

---

[1] دا عمرو بن عبید هغه سړے دے. کوم چه د حسن بصری په صحبت کښې اوسیدو. بیا قدَری او معتزلی شو.

[2] د احدیث صحیح دے. او په څو طریقو سره روایت دے. په خپله مُسلم وراندے دے لره روایت کړے دے مگر د عوف چه د حسن بصری لوئے مصاحب وو. دا عرض دے چه حسن دے حدیث لره روایت کړے نهٔ دے. نو د عمروبن عبید د حسن نه روایت کول غلط او دروغ پاتے شو. عمروبن عبید خو د معتزلو د مذهب امام وو. د هغهٔ اعتقاد دا وو چه کوم مسلمان کبیره گناه اوکړی هغه نهٔ مسلمان دے نهٔ کافر. د اسلام او د کفر په مینځ کښې ئے یوه بله واسطه راویستلے وه. او ویل به ئے چه کبیره گناه کونکے به هم د کافر پشان همیشه همیشه په جهنم کښې اسیږی. دے حدیث لره هغه د خپل مذهب د ثابتولو دپاره روایت کړے دے. په ظاهر ددے حدیث نه دا خبره معلومیږی چه په مسلمان پسے اسلحه اوچتونکے زمونږ نه نهٔ دے. یعنی مسلمان نهٔ دے. او په مسلمان باندے اسلحه اوچتول یعنی هتیار اوچتول کبیره گناه ده نو ددے نه دا معلومه شوه چه کبیره گناه کونکے مسلمان نهٔ دے. او کافر هم نهٔ دے. بیا څهٔ شو نهٔ مسلمان نهٔ کافر. دا د عمرو بن عبید مذهب دے. او اهل سنت دا وائی چه انسان یا کافر دے یا مسلمان. او کبیره گناه کونکے مسلمان دے مگر گنهگار دے. د خدائے پاک اختیار دے. چه د قیامت په ورځ د هغهٔ گناه معاف کړی یا د څهٔ ورځو دپاره د جهنم عذاب ورکړی. مگر هغه به یوه ورځ د جهنم نه را اوخی او جنت ته به لاړ شی. ولے چه ایمان د هغهٔ قائم وو بیا به هغه نهٔ ضائع کیږی. او وراندے به په کتاب الایمان کښې انشاء الله ډیر احادیث بیان شی. چه دهغے نه د معتزلو د مذهب رَد دے او ددے حدیث مطلب دا دے چه کوم سړی په مسلمان پسے وسله اوچته کړه. هغه زمونږ په طریقه او زمونږ په لار باندے نهٔ دے لکه څنگه چه پلاز خیل شریر او نافرمانه بچی ته په غصّه کښې وائی چه تهٔ زمانه ئے. په دے شان د حدیث نه هم تشدد او سختی منظوره ده او مقصود ئے دادے چه خلق په مسلمان باندے د وسلے اوچتولو نه خان بچ کړی او مثال ددے په نورو احادیثو کښې هم موجود دے لکه مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا. یعنی څوک چه په اغستلو او خرڅولو کښې دهوکه ورکوی هغه زمونږ نه نهٔ دے (نووی)

عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ كَانَ رَجُلٌ قَدْ لَزِمَ أَيُّوبَ وَسَمِعَ مِنْهُ فَفَقَدَهُ أَيُّوبُ فَقَالُوا يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّهُ قَدْ لَزِمَ عَمْرَو بْنَ عُبَيْدٍ قَالَ حَمَّادٌ فَبَيْنَا أَنَا يَوْمًا مَعَ أَيُّوبَ وَقَدْ بَكَّرْنَا إِلَى السُّوقِ فَاسْتَقْبَلَهُ الرَّجُلُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ أَيُّوبُ وَسَأَلَهُ ثُمَّ قَالَ لَهُ أَيُّوبُ بَلَغَنِي أَنَّكَ لَزِمْتَ ذَاكَ الرَّجُلَ قَالَ حَمَّادٌ سَمَّاهُ يَعْنِي عَمْرًا قَالَ نَعَمْ يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّهُ يَجِيئُنَا بِأَشْيَاءَ غَرَائِبَ قَالَ يَقُولُ لَهُ أَيُّوبُ إِنَّمَا نَفِرُّ أَوْ نَفْرَقُ مِنْ تِلْكَ الْغَرَائِبِ

د حماد بن زید نه روایت دے چه یو سړے به همیشه د ایوب سختیانی په مجلس کښې پاتے کیدو او د هغهٔ نه به ئے حدیث اوریدل یو ځل ایوب هغه لو نهٔ موندو نو تپوس ئے اوکړو خلقو اُووے اے ابو بکر (دا د ایوب سختیانی کنیت دے) هغه سړے اوس د عمرو بن عبید په صحبت کښې اوسیږی حماد اُووے یوه ورځ زهٔ د ایوب سره سحر وختی بازار ته روان وُم په دے کښې هغه سړے مخے له راغے ایوب هغهٔ ته سلام اوکړو او د حال تپوس ئے ترے اوکړو. بیائے ورته اووے چه ما اوریدلے دی چه تهٔ د عمرو بن عبید سره وسیږے. هغهٔ اووے آو اے ابکر! ځکه چه هغه مونږ ته ناشنا خبرے کوی ایوب اووے چه مونږ د داسے ناشنا خبرو نه تښتو.[1]

عَنْ حَمَّادٍ قَالَ قِيلَ لِأَيُّوبَ إِنَّ عَمْرَو بْنَ عُبَيْدٍ رَوَى عَنِ الْحَسَنِ قَالَ لَا يُجْلَدُ السَّكْرَانُ مِنَ النَّبِيذِ فَقَالَ كَذَبَ أَنَا سَمِعْتُ الْحَسَنَ يَقُولُ يُجْلَدُ السَّكْرَانُ مِنَ النَّبِيذِ

د حماد نه روایت دے. ایوب ته چا اُووے چه عمرو بن عبید د حسنؒ نه روایت کړے دے چه کوم سړے چه په نبیذ (د کهجورو شربت) ځکلو سره مست شی په هغهٔ حد نهٔ جاری کیږی. ایوب اووے عمرو بن عبید دروغجن دے. حسن ویل چه کوم سړے په نبیذ سره مست شی په هغهٔ حد جاری کیږی.

عَنْ سَلَّامِ بْنِ أَبِي مُطِيعٍ يَقُولُ بَلَغَ أَيُّوبَ أَنِّي آتِي عَمْرًا فَأَقْبَلَ عَلَيَّ يَوْمًا فَقَالَ أَرَأَيْتَ رَجُلًا لَا تَأْمَنُهُ عَلَى دِينِهِ كَيْفَ تَأْمَنُهُ عَلَى الْحَدِيثِ

د سلام بن مطیع نه روایت دے چه ایوب ته خبر اورسیدو چه زهٔ د عمرو بن عبید خواله ځم. نو هغه یو ورځ ماله راغے او راته ئے اووے تهٔ څهٔ پوهیږے چه د کوم سړی په دین ستا اعتماد نهٔ وی. آیا د هغهٔ په حدیث باندے تهٔ اعتماد کولے شے؟

عَنْ أَبِي مُوسَى يَقُولُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ

ابو موسیٰ ویل چه مونږ ته عمرو بن عبید حدیث بیان وو

[1] یعنی غریب او نادر حدیثو لره چه هغے لره نور څوک نه پیژنی. او عمروبن عُبید هغے لره روایت کوی. د دے دپاره چه هغه دروغجن دے او د عمروبن عبید اعتبار نشته

عُبَيدٍ قَبلَ أَن يُحدِثَ

دد ے نه مخکښ چه هغهٔ نو ے خبر ے رااُویستے (یعنی د بد اعتقادئ نه مخکښ)

عَنْ مُعَاذٍ الْعَنبَرِيِّ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ كَتَبتُ إِلَى شُعبَةَ أَسأَلُهُ عَن أَبِي شَيبَةَ قَاضِي وَاسِطٍ فَكَتَبَ إِلَيَّ لَا تَكتُب عَنهُ شَيئًا وَمَزِّق كِتَابِي

معاذ بن عنبری ووئیلی دی چه ما شعبه ته اولیکل چه ابو شیبه د واسط (د بصر ے په خوا کښ د یو کلی نوم د ے) قاضی څهٔ حال د ے. هغهٔ په جواب کښ اولیکل چه د هغهٔ نه څهٔ مهٔ روایت کوه او زما خط اوشلوه[1].

عَنْ عَفَّانَ قَالَ حَدَّثتُ حَمَّادَ بنَ سَلَمَةَ عَن صَالِحٍ الْمُرِّيِّ بِحَدِيثٍ عَن ثَابِتٍ فَقَالَ كَذَبَ وَحَدَّثتُ هَمَّامًا عَن صَالِحٍ الْمُرِّيِّ بِحَدِيثٍ فَقَالَ كَذَبَ

عفان نه روایت د ے ما حماد بن سلمه ته د صالح مُری یو حدیث بیان کهٔ چه هغوی د ثابت نه نقل کړ ے وو. نو حماد اوو ے دروغ دی بیا ما همام ته د صالح مُری یو حدیث بیان کهٔ هغوی اوو ے دروغ دی[2]

عَنْ أَبِي دَاوُدَ قَالَ قَالَ لِي شُعبَةُ ائتِ جَرِيرَ بنَ حَازِمٍ فَقُل لَهُ لَا يَحِلُّ لَكَ أَن تَروِيَ عَنِ الْحَسَنِ بنِ عُمَارَةَ فَإِنَّهُ يَكذِبُ قَالَ أَبُو

د ابوداؤد نه روایت د ے ماته شعبه اوو ے چه تهٔ جریر بن حازم خواله لاړ شه او ورته اووایه چه تا لره د حسن بن عماره نه روایت کول صحیح نهٔ دی ځکه چه هغه دروغ وائی ابوداؤد اوو ے ما د

---

[1] دد ے دپاره چه څوک اونهٔ وینی او داسے اونهٔ شی چه ابو شیبه ته خبر ورکړی. او هغه ایذاء ورکړی. او فساد خور کړی. دا ابو شیبه د ابو بکر بن ابی شیبه او د عثمان ابن ابی شیبه نیکهٔ د ے. د محدثینو په نز متروک د ے. او د هغهٔ نمسی معتبر او ثقه دی خصوصا ابوبکر بن ابی شیبه چه د هغهٔ مصنف مشهور د ے. د ے ابو شیبه هغه حدیث روایت کړ ے د ے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په رمضان کښ شل رکعته تراویح کړی دی. ذهبی ویلی دی چه دا حدیث د ابو شیبه د منکرو حدیثو نه د ے

[2] دا صالح مری. د بشر خوئ بصری د ے. د لویو عابدانو او زاهدانو نه وو. او مری ورته دد ے وجے نه وائی چه پلار ددهٔ عربی وو او مورئے وینځه وه چه هغے لره د بنی مرّه یو ے ښځے آزاده کړ ے وه. دِ صالح مری حکایتونه په صوفیانو کښ ډیر مشهور دی آواز د هغهٔ زیات خوږ وو قرآن به ئے په ډیره خوش آوازئ سره لوستو ترد ے پور ے چه د هغهٔ په قرآن اوریدو سره بعضے خلق ډیر ے نه مړه شوی دی د ے پخپله م ډیر صالح او اِسم بامُسمّیٰ او خدا ترس وو. اکثر به ئے د خدائے ډیر ے نه ژړا کوله مگر د حدیثو په روایت کښ د هغهٔ اعتبار نشته. لکه څنګه چه وړاند ے بیان شو چه درویشی خانله خیز او د حدیثو روایت خانله خیز د ے.

دَاوُدُ قُلْتُ لِشُعْبَةَ وَكَيْفَ ذَاكَ قَالَ حَدَّثَنَا عَنِ الْحَكَمِ بِأَشْيَاءَ لَمْ أَجِدْ لَهَا أَصْلًا قَالَ قُلْتُ لَهُ بِأَيِّ شَيْءٍ قَالَ قُلْتُ لِلْحَكَمِ أَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ فَقَالَ لَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ فَقَالَ الْحَسَنُ بْنُ عُمَارَةَ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ مِقْسَمٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَيْهِمْ وَدَفَنَهُمْ قُلْتُ لِلْحَكَمِ مَا تَقُولُ فِي أَوْلَادِ الزِّنَا قَالَ يُصَلَّى عَلَيْهِمْ قُلْتُ مِنْ حَدِيثِ مَنْ يُرْوَى قَالَ يُرْوَى عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ فَقَالَ الْحَسَنُ بْنُ عُمَارَةَ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ عَنْ يَحْيَى بْنِ الْجَزَّارِ عَنْ عَلِيٍّ.

شعبه نه تپوس اوکړو. تا ته څنګه معلومه شوه چه هغه دروغ وائی؟ شعبه اووے ددے وجے نه چه حسن بن عماره د حکم نه یو څو حدیثونه نقل کړی دی چه د هغے اصل ما معلوم نه کړ ما اووے هغه کوم احادیث دی؟ شعبه اووے چه ما د حکم نه تپوس اوکړو چه آیا رسول الله ﷺ د جنګ اُحُد په شهیدانو مونځ کړے وو؟ حکم اووے، نه بیا حسن بن عماره د حَکَم نه روایت کوی او هغه د مقسم نه، هغه د ابن عباس رضی الله عنه نه چه رسول الله ﷺ د اُحد په شهیدانو مونځ کړے دے او دفن کړی دی هغوی لره. او ما حَکَم ته اُووے چه ته د زنا د اولاد په باره کښې څه وائے؟ هغوی اُووے په هغوی د جنازه کولے شی. ما اُووے په دے باب کښې د چا نه روایت شوے دے؟ هغوی اُووے د حسن بصری نه حسن بن عماره اووے ما ته حَکَم بیان کړے دے هغهٔ د یحیٰی بن الجزار نه اوریدلی دی هغوی د حضرت علی رضی الله عنه نه[1].

عَنْ يَزِيدَ بْنِ هَارُونَ وَذَكَرَ زِيَادَ بْنَ مَيْمُونٍ فَقَالَ حَلَفْتُ أَلَّا أَرْوِيَ عَنْهُ شَيْئًا وَلَا عَنْ خَالِدِ بْنِ مَحْدُوجٍ وَقَالَ لَقِيتُ زِيَادَ بْنَ

یزید بن هارون ذکر کړی دی چه دهٔ ذکر اوکړو د زیاد بن میمون او قسم ئے کړے ویلی ئے دی چه ددهٔ نه به څهٔ روایت نهٔ کوم. او نهٔ به د خالد بن مجدوح نه یزید وائی چه زهٔ د زیاد بن میمون سره میلاؤ

[1] نو په دے دوارو مقاماتو کښې د حسن بن عماره دروغ ظاهر شول. ولے چه شعبه پخپله د حکم سره میلاؤ شو او تپوس ئے ترے اوکړو. هغوی اووے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د اُحُد په شهیدانو باندے مونځ نهٔ دے کړے. بیا حکم په خپله څنګه روایت کوی د ابن عباس نه چه رسول الله صلی الله علیه مونځ کړے دے په هغوی باندے. په دے شان حکم په ولد زنا باندی د جنازے د مونځ د کولو په باره کښې د حسن بصری قول نقل کړے دے. او حسن د هغهٔ نه د حضرت علی قول نقل کړے دے. اګر چه احتمال دے چه په دے باب کښې د حسن او علی د دوارو نه نقل شو. مګر د حدیثو حافظان، د راویانو د دروغو او دلائلو او قرائنو نه پیژندلے شی. دا حسن بن عماره بخلی ابو محمد کوفی دے د قاضی بغداد او په اتفاق سره ضعیف دے او متروک دے.

مَيْمُونٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْ حَدِيثٍ فَحَدَّثَنِي بِهِ
عَنْ بَكْرٍ الْمُزَنِيِّ ثُمَّ عُدْتُ إِلَيْهِ فَحَدَّثَنِي بِهِ
عَنْ مُوَرِّقٍ ثُمَّ عُدْتُ إِلَيْهِ فَحَدَّثَنِي بِهِ عَنِ
الْحَسَنِ وَكَانَ يَنْسُبُهُمَا إِلَى الْكَذِبِ قَالَ
الْحُلْوَانِيُّ سَمِعْتُ عَبْدَ الصَّمَدِ وَذَكَرْتُ
عِنْدَهُ زِيَادَ بْنَ مَيْمُونٍ فَنَسَبَهُ إِلَى الْكَذِبِ

عَنْ مَحْمُودِ بْنِ غَيْلَانَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي
دَاوُدَ الطَّيَالِسِيِّ قَدْ أَكْثَرْتَ عَنْ عَبَّادِ بْنِ
مَنْصُورٍ فَمَا لَكَ لَمْ تَسْمَعْ مِنْهُ حَدِيثَ
الْعَطَّارَةِ الَّذِي رَوَى لَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ
قَالَ لِيَ اسْكُتْ فَأَنَا لَقِيتُ زِيَادَ بْنَ مَيْمُونٍ
وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ مَهْدِيٍّ فَسَأَلْنَاهُ فَقُلْنَا لَهُ
هَذِهِ الْأَحَادِيثُ الَّتِي تَرْوِيهَا عَنْ أَنَسٍ فَقَالَ
أَرَأَيْتُمَا رَجُلًا يُذْنِبُ فَيَتُوبُ أَلَيْسَ يَتُوبُ
اللَّهُ عَلَيْهِ قَالَ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ مَا سَمِعْتُ مِنْ
أَنَسٍ مِنْ ذَا قَلِيلًا وَلَا كَثِيرًا إِنْ كَانَ لَا يَعْلَمُ
النَّاسُ فَأَنْتُمَا لَا تَعْلَمَانِ أَنِّي لَمْ أَلْقَ أَنَسًا
قَالَ أَبُو دَاوُدَ فَبَلَغَنَا بَعْدُ أَنَّهُ يَرْوِي فَأَتَيْنَاهُ أَنَا

شوم. او د هغهٔ نه مې د يو حديث تپوس اوکړو. هغهٔ روايت کړو هغې لره د ابو بکر بن عبد الله مزنی نه بيا زهٔ د هغهٔ سره ميلاؤ شوم نو هغهٔ روايت اوکړو ددے حديث د مورق بن شمرج نه بيا زهٔ د هغهٔ سره ميلاؤ شوم نو روايت ئے اوکړو ددے حديث د حسن نه او يزيد بن هارون په دغه ورځو زياد بن ميمون او خالد بن مجدوح ته دروغجن ويلو. حسن حلوانی ويلی دی ما د عبد الصّمد نه اوريدلی دی. ما ذکر اوکړو د زياد بن ميمون هغوی اُووے درغجن دے[1].

د محمود بن غيلان نه روايت دے چه ما ابوداؤد طيالسی ته اووے چه تا د عباد بن منصور نه ډير زيات روايتونه کړی دی. نو څهٔ سبب دے چه تا هغه حديث نهٔ دے اوريدلے. د عطار ښځې چه د کوم روايت کړے نظر بن شميل زمونږ دپاره. هغوی اُووے چُپ شه. زهٔ او عبد الرّحمٰن بن مهدی دواړه د زياد بن ميمون سره ميلاؤ شو. او د هغهٔ نه مو تپوس اوکړو د هغه حديثو چه هغه روايت کړی دی د انس نه. هغهٔ اووے تاسو څهٔ پوهيږئ کهٔ چرے يو سړی گناه اوکړی او بيا توبه کړی نو ولے خدائے پاک به ئے نهٔ معاف کوی؟ عبد الرّحمٰن اووے البته معاف به ئے کړی. زياد اووے ما د انس نه څهٔ نهٔ دی اوريدلی نهٔ لږ او نهٔ ډير. کهٔ چرے خلق دا خبره نهٔ پيژنی نو ولے تاسو به ئے هم نهٔ پيژنئ (يعنی تاسو خو ئے پيژنئ) زهٔ د انس سره ميلاؤ شوے قدرے نهٔ يم. ابوداؤد ويلی دی چه بيا مونږ

[1] زياد بن حسن بصری چه د هغهٔ کنيت ابوعمّار دے ضعيف دے. بخاری په خپل تاريخ کښې ويلی دی چه پرے خودے دے دهٔ لره محدثينو او خالد بن مجدوح واسطی هم ضعيف دے. نسائی دهٔ لره ضعيف کړے دے. کنيت ددهٔ ابو روح دے او دهٔ ليدلے دے انس بن مالک رضی الله عنه لره.

وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ فَقَالَ أَتُوبُ ثُمَّ كَانَ بَعْدُ يُحَدِّثُ فَتَرَكْنَاهُ

ته خبر را اورسيدو چه زياد روايت کوی د انس رضی الله عنه نه زۀ او عبد الرّحمٰن واپس شو هغۀ اووے چه ز توبه کوم. بيا هغۀ ددے نه پس د هغۀ نه روايت کوۀ. آخر مونږه هغه پريخودو يعنی ددۀ نه مو روايت کول پريخودو ولے چه هغه دوغجن اوختو. او دروغجن هم داسے چه د توبے خيال ئے هم پريخودو[1].

عَنْ شَبَابَةَ قَالَ كَانَ عَبْدُ الْقُدُّوسِ يُحَدِّثُنَا فَيَقُولُ سُوَيْدُ بْنُ عَقَلَةَ قَالَ شَبَابَةُ وَسَمِعْتُ عَبْدَ الْقُدُّوسِ يَقُولُ نَهٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَّخَذَ الرَّوْحُ عَرْضًا قَالَ فَقِيلَ لَهُ أَيُّ شَيْءٍ هٰذَا قَالَ يَعْنِي تَتَّخَذُ كُوَّةٌ فِي حَائِطٍ لِيَدْخُلَ عَلَيْهِ الرَّوْحُ قَالَ وَسَمِعْتُ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ الْقَوَارِيرِيَّ يَقُولُ سَمِعْتُ حَمَّادَ بْنَ زَيْدٍ يَقُولُ لِرَجُلٍ بَعْدَ مَا جَلَسَ مَهْدِيُّ بْنُ هِلَالٍ بِأَيَّامٍ مَا هٰذِهِ الْعَيْنُ الْمَالِحَةُ الَّتِي نَبَعَتْ قِبَلَكُمْ قَالَ نَعَمْ يَا أَبَا إِسْمٰعِيلَ

د شبابه بن سوار مداينی نه روايت دے چه عبد القدوس مونږ ته حديث بيانول نو ويلی ئے وو سويد بن عقله او ويلی ئے وو چه منع کړے ده رسول الله ﷺ روح يعنی هوا لره په عرض کښ د اخستو نه خلقو اووے ددے مطلب څۀ دے ؟ هغۀ اووے مطلب دادے چه په ديوال کښ يوسورے اوکړے د هوا د راتلو دپاره. امام مسلمؒ فرمائی ما اوريدلی دی د عبد الله بن عُمر قواريری نه او هغوی اوريدلی دی د حمّاد بن زيد نه. هغوی يو سړی ته اووے هر کله چه مهدی بن هلال د څۀ ورځو پورے کيناستو دا څنګه ترخه چينه ده چه ماته شوه ستاسو په طرف. هغه سړی اووے آو اے ابی اسمٰعيل[2].

---

[1] دا د هغه عطارنی حديث دے. چه يوه ښځه وه په مدينه کښ عطارنی چه د هغے نوم حولاء وو هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم له راغله نو د حضرت عائشے رضی الله عنها سره ميلاؤ شوه. او د خپل خاوند حال ئے ورته بيان کۀ. هغے ورته د خپل خاوند جناب نبی کريم صلی الله عليه وسلم لوئی والے بيان کۀ. دا حديث ډير اوږد دے. او صحيح نۀ دے. ابن وضاح دے لره پوره نقل کړے دے. او روايت کړے دے دے حديث لره زياد بن ميمون د انس رضی الله عنه نه

[2] دا ټول د عبد القدوس تصحيف او نا فهمی ده هغۀ غلطی کړے په سندونو او متن دواړو کښ د سندونو غلطی خو داده چه د راوی نوم سويد بن عفله دے. د عين او د فے سره. نۀ د عين او د قاف سره عقله. او د متن غلطی داده چه روح بضم راء دے په معنی د جان. نۀ روح بفتح راء دے په معنی د هوا چه د هغے معنی هوا ده. او غرض د غين سره دے. نۀ چه غرض د عين سره دے. او اصل معنی د حديث داده. چه هغوی صلی الله عليه وسلم منع کړی دی هر جاندار لره د نشانه جوړولو او وژلونه. چه هغے لره عبد القدوس اُلټه پُلټه کړو او د يو خائے نه ئے بل خائے ته کړو. ابو اسمٰعيل کنيت دے حماد بن زيد د

عَنْ أَبِي عَوَانَةَ قَالَ مَا بَلَغَنِي عَنِ الْحَسَنِ حَدِيثٌ إِلَّا أَتَيْتُ بِهِ أَبَانَ بْنَ أَبِي عَيَّاشٍ فَقَرَأَهُ

د ابوعوانه نه روایت دے. ماته د حسن نه څۀ روایت نه دے رارسیدلے. مګر ما تپوس اوکړو د ابان بن ابی عیاش نه هغه اولوستو هغے لره زما په مخکښ[1].

عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُسْهِرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَا وَحَمْزَةُ الزَّيَّاتُ مِنْ أَبَانَ بْنِ أَبِي عَيَّاشٍ نَحْوًا مِنْ أَلْفِ حَدِيثٍ قَالَ عَلِيٌّ فَلَقِيتُ حَمْزَةَ فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَنَامِ فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَا سَمِعَ مِنْ أَبَانَ فَمَا عَرَفَ مِنْهَا

د علی بن مسهرؒ نه روایت دے. ما او حمزه زیات د ابان بن عیاش نه یو زرو ته نژدے احادیث اوریدلی دی علی وائی چه بیا د حمزه سره میلاؤ شوم. هغۀ بیان اوکړو چه ما رسول الله ﷺ په خوب کښ اولیدو. او څۀ چه م د ابان نه اوریدلی وو هغه م ورته واؤرول هغۀ اونۀ پیژندل دے حدیثو لره مګر لږ شان احادیث ئے قبول کړل پنځۀ یا شپږ[2].

ترکے چینے نه د هغۀ غرض د مهدی بن هلال ضعیف کول وو. او اتفاق کړے دے محدثینو د هغۀ په ضعف باندے. نسائی ویلی دی چه هغه د بصرے اوسیدونکے او متروک دے. روایت کوی د داؤد بن ابی هند او یونس بن عبید نه (نوویؒ)

[1] یعنی د ابان دا حال وو. چه د کومے خبری تپوس به د د هغۀ نه کوو. هغۀ به روایت کوؤ د حسن نه. او دا دلیل دے د هغۀ د کذب او دروغو ویلو. په تقریب کښ دی چه دا ابان بن ابی عیاش دۀ کنیت ابو اسماعیل عبدی دے او دا متروک دے.

[2] نووی ویلی دی چه مقصود دد ے روایت په راؤړو سره تائید د هغه امر کوم چه وړاندے ثابت شو چه ابان بن ابی عیاش ضعیف دے نۀ دا خبره چه د خوب نه څۀ امر یقینا ثابت کیدے شی یا په خوب سره څۀ سنت کوم چه ثابت شوی دی باطلیږی یا چه کوم باطل شوی وی هغه ثابت کیدے شی او په دے باندے د علماؤ اجماع ده. چه خوب څۀ دلیل شرعی نۀ دے. داسے ویلی دی قاضی عیاض او زمونږ ملګرو هم داسے ویلی دی او اتفاق ئے کړے دے په دے باندے چه د خوب نۀ څۀ خبره د شرعے بدل نۀ شی کیدے. او دا امر دد ے حدیث خلاف نۀ دے چه چا زۀ په خوب کښ اولیدم هغه خامخا اولیدم. ولے چه شیطان خما صورت نۀ شی جوړولے. دد ے دپاره چه د حدیث مطلب دا دے چه محمد صلی الله علیه وسلم په خوب کښ لیدل صحیح دی. دغه خوب د نورو شیطانی خیالاتو په شان نۀ دے مګر د حدیث نه دا خبره چرته وتلے شی چه په خوب کښ څۀ اوویلے شی هغه یو شرعی حُکم دے او د خوب حالت د غفلت حالت دے نۀ د ضبط او تحقیق. اتفاق کړے دے علماؤ چه د روایت او شهادت د قبلولو دپاره ضروری ده چه راوی او شاهد بیدار او هوښیار صحیح الحفظ او قلیل الخطا وی. او کوم سړے چه اودۀ وی او په هغه کښ دا یو صفت نۀ وی نو بیا د هغۀ روایت به څنګه مقبول شی. مګر دا ټول بیان په دے صورت کښ دے. چه په خوب کښ څۀ داسے خبره اوکوری یا واؤری چه هغه د شرعی شریفے نه خلاف وی. آو کۀ چرے هغه خبره واؤری یا اوګوری چه کومه د شرع شریفے د طرفنه جائز یا د ثواب وی. یا تالره منع کول أووینی د داسے کار نه چه د شرع د طرفنه منع وی. یا ددۀ څۀ دُنیاوی کار وی چه په هغے کښ څۀ مصلحت وی. نو باالاتفاق په دے خوب باندے عمل کول مستحب دی. ولے چه دا حکم صرف د خوب نه ثابت نۀ دے. هغه خو د وړاندے نه هم ثابت شوے دے. (انتهٰی)

د اردو کتاب مترجم وائی چه کۀ چرے د خوب خبرو لره دلیل شرعی اوګڼلے شی نو لوئے قباحت پیدا کیږی هغه دا چه هر سړے به دعوه کوی چه ما په خوب کښ د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے اوریدلی دی بیا به د

إِلاَّ شَيْئًا يَسِيرًا خَمْسَةً أَوْ سِتَّةً

عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ عَدِيٍّ قَالَ قَالَ لِي أَبُو إِسْحٰقَ الْفَزَارِيُّ اكْتُبْ عَنْ بَقِيَّةَ مَا رَوَى عَنِ الْمَعْرُوفِينَ وَلاَ تَكْتُبْ عَنْهُ مَا رَوَى عَنْ غَيْرِ الْمَعْرُوفِينَ وَلاَ تَكْتُبْ عَنْ إِسْمٰعِيلَ بْنِ عَيَّاشٍ مَا رَوَى عَنِ الْمَعْرُوفِينَ وَلاَ عَنْ غَيْرِهِمْ

عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ الْمُبَارَكِ قَالَ نِعْمَ الرَّجُلُ

زکریا بن عدی وائی ما ته أووے ابو اسحٰق فزاری (ابراهیم بن محمد بن حارث بن اسماء بن خارجه کوفی چه د حدیثو لوئے امام او ثقه لو فاضل وو) چه لیکه ته د بقیه بن ولید هغه حدیث چه هغه ئے روایت کړی د هغه مشهورو خلقو نه او هر گز مهٔ لیکه تهٔ هغه حدیث چه دهٔ غیر معروف خلقو نه روایت کړے او مهٔ لیکه تهٔ د اسماعیل بن عیاش حدیث اگر کهٔ هغه روایت او کړی د مشهورو خلقو نه هم[1].

عبد الله بن مبارک وائی بقیه بن الولید ښهٔ سړے وو. کهٔ چرے

هغے تصدیق گران وی. او په دے کښې شک نشته چه کوم خلق صالح او دینداره او خدا پَرست عاشق رسول الله صلی الله علیه وسلم دی د هغوی خوبونه اکثر صحیح وی. بیا د هغے صحت د شرعے نه معلومیدے شی. نهٔ د شرع صحت د خوب نه

[1] نووی وائی دا قول د ابواسحٰق د اسمٰعیل بن عیاش په حق کښې خلاف دے او امامانو د حدیث. عباس ویلی دی ما د یحیٰی بن مُعین نه اوریدلی دی هغهٔ ویلی وو. چه اسمٰعیل بن عیاش ثقه دے. او د شام والاؤ نه په نز هغه د بقیه نه بهتر وو. ابن ابی خیثمه وائی چه ما د یحیٰی بن معین نه اوریدلی دی چه هغهٔ ویلی وو. اسمٰعیل بن عیاش ثقه دے او عراق والا بدگنړلو د هغهٔ روایت کولو لره. او بخاری رحمه الله ویلی دی. چه د اسمٰعیل بن عیاش روایت د شام د خلقو نه صحیح دے. عمر بن علی وائی هر کله چه هغه د خپل ښار والاؤ نه رایت کوی نو د هغهٔ روایت صحیح دے. او هر کله چه د اهل مدینه نه لکه هشام بن عُروه او یحیٰی بن سعید او سهیل بن ابی صالح نه روایت کوی. نو هغه څهٔ نهٔ دے. او یعقوب بن سفیان ویلی دی ما د خپلو یارانو نه اوریدلی وو. هغوی ویلی وو. چه د شام علم د اسماعیل بن عیاش سره دے. یعقوب وائی بعضے خلقو د اسمٰعیل په حق کښې کلام کړے دے. او هغه ثقه دے عادل دے د تولو نه زیات پوهه دے د شام والا په حدیث باندے. او اکثرو دهٔ په حق کښې دا کلام کړے دے. چه هغه غریب احادیث روایت کوی. د مکے او مدینے د معتبرو خلقو نه یحیٰی بن معین ویلی دی. چه اسمٰعیل ثقه دے د شام والاؤ نه په روایت کولو کښې. او د اهل حجاز نه د هغهٔ روایت معتبر نهٔ دے. ولے چه دهٔ کتاب تلف شوے وو. او حافظه ئے خرابه شوے وه. ابو حاتم وائی هغه ضعیف دے مگر د هغهٔ روایت لیکلے شی. او زهٔ نهٔ پوهیږم چه څوک را اُوختے دے. دهٔ د روایت ئے سیوا د ابو اسحٰق فزاری نه. ترمذی ویلی دی چه هغه د بقیه نه بهتر دے. او د بقیه ډیر احادیث منکر دی. احمد بن ابی الحواری وائی چه وکیع ماته اُووے ستا دلته خلق روایت کوی د اسمٰعیل بن عیاش نه. ما اووے آو ولید او مروان خو دهٔ نه روایت کوی. او هشیم او محمد بن ایاس روایت نهٔ کوی. هغوی اووے هشیم او محمد بن ایاس څهٔ دی. ښار والا خو ولید او مروان دی (یعنی ولید او مروان معتبر دی) او هر کله چه دا روایت کوی نو پوره دے. (امام نووی)

بَقِيَّةُ لَوْلاَ أَنَّهُ كَانَ يَكْنِي الأَسَامِيَ وَيُسَمِّي الْكُنَى كَانَ دَهْرًا يُحَدِّثُنَا عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْوُحَاظِيِّ فَنَظَرْنَا فَإِذَا هُوَ عَبْدُ الْقُدُّوسِ

هغه نومونو لره په کنیت سره چه بیانولے او کنیت لره په نومونو سره ریعنی په بقیه کښې دا عادت خراب دے چه تدلیس او تلبیس کوی. د راویانو د عیب د پټولو د پاره نوم لره په کنیت سره بدلوی او کنیت لره په نوم سره ددے د پاره چه خلق ئے نه پیژنی.د یوے مودے پورے به ئے مونږ ته حدیث بیانول دابوسعید وحاظی نه هر کله چه مونږ غور او کړو (چه وحاظی څوک سړے دے) نو معلومه شوه چه هغه عبد القدوس دے[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ يَقُولُ مَا رَأَيْتُ ابْنَ الْمُبَارَكِ يُفْصِحُ بِقَوْلِهِ كَذَّابٌ إِلاَّ لِعَبْدِ الْقُدُّوسِ فَإِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ لَهُ كَذَّابٌ

د عبد الرّزّاق نه روایت دے چه ما نهٔ دی اوریدلی د عبد الله بن مبارک نه چه چا ته ئے صفا دروغجن ویلی دی. مگر عبد القدوس ته به هغه ویل چه دروغجن دے.

عَنْ أَبِي نُعَيْمٍ وَذَكَرَ الْمُعَلَّى بْنَ عُرْفَانَ فَقَالَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو وَائِلٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا ابْنُ مَسْعُودٍ بِصِفِّينَ فَقَالَ أَبُو نُعَيْمٍ أَتُرَاهُ بُعِثَ بَعْدَ الْمَوْتِ

ابو نعیم ذکر او کړوو د معلی بن عرفان نو وے ویل چه مُعَلّی وائی ما ته حدیث بیان کړے دے ابووائل چه رااووتهٔ عبد الله بن مسعود زمونږ مخے ته په صفین کښې. ابو نعیم اُووے شاید چه مړ شوے وی او بیا د قبر نه پاڅیدلی وی[2].

عَنْ عَفَّانَ بْنِ مُسْلِمٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ إِسْمَعِيلَ

د عفان بن مُسلم نه روایت دے چه مونږ د اسمٰعیل بن عَلَیّه سره

---

[1] یعنی عبد القدوس بن حبیب کلاعی ابو سعید شامی چه بیان ئے وړاندے تیر شو. د هغهٔ نوم مشهور دے کنیت ئے مشهور نهٔ دے. نو بقیه هغهٔ لره په کنیت سره ذکر کول شروع کړل. ددے د پاره چه خلق ئے نهٔ پیژنی.

[2] مقصود ددے نه د عبد الله دروغ ظاهرول دی په ابو وائل باندے په دے واسطه چه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وفات شوے دے په ۳۲ھ یا ۳۳ھ کښې د حضرت عثمان د وفات نه درے کاله وړاندے او د صفین جنګ د حضرت علی رضی الله عنه د خلافت نه دوه کاله ورستو شوے دے. نو ابن مسعود رضی الله عنه په دے کښې څنګه راوتلے شی. مګر په دے شان کهٔ چرے بیا راپاسیدلے وی. او ابووائل ثقه او فاضل دے. د هغهٔ نه دا دروغ نهٔ شی صادر کیدے. نو ضروری خبره ده چه مُعلی پورے دروغ ویلی دی. دا معلی بن عرفان اسدی کوفی دے چه په اتفاق سره ضعیف دے. بخاری په تاریخ کښې ویلی دی چه هغه منکر الحدیث دے.نسائی هم ضعیف کړے دے. صفین د یو مقام نوم دے چه هلته د حضرت علی رضی الله عنه او معاویه رضی الله عنه په مینځ کښې جنګ عظیم واقع شوے وو.

ابْنِ عُلَيَّةَ فَحَدَّثَ رَجُلٌ عَنْ رَجُلٍ فَقُلْتُ إِنَّ هٰذَا لَيْسَ بِثَبْتٍ قَالَ فَقَالَ الرَّجُلُ اغْتَبْتَهُ قَالَ إِسْمٰعِيلُ مَا اغْتَابَهُ وَلٰكِنَّهُ حَكَمَ أَنَّهُ لَيْسَ بِثَبْتٍ

ناست وو. په دے کښې يو سړی د بل سړی نه يو حديث روايت کړو. ما اووے هغه معتبر نه دے. هغه سړی أووے تا د هغهٔ غيبت اوکړو. اسمٰعيل أووے دهٔ غيبت نه دے کړے بلکه حکم ئے اولګوو په دهٔ باندے چه هغه معتبر نهٔ دے[1].

عَنْ بِشْرِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَأَلْتُ مَالِكَ بْنَ أَنَسٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الَّذِي يَرْوِي عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ فَقَالَ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَسَأَلْتُهُ عَنْ أَبِي الْحُوَيْرِثِ فَقَالَ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَسَأَلْتُهُ عَنْ شُعْبَةَ الَّذِي رَوَى عَنْهُ ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ فَقَالَ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَسَأَلْتُهُ عَنْ صَالِحٍ مَوْلَى التَّوْأَمَةِ فَقَالَ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَسَأَلْتُهُ عَنْ حَرَامِ بْنِ عُثْمَانَ فَقَالَ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَسَأَلْتُ مَالِكًا عَنْ هٰؤُلَاءِ الْخَمْسَةِ فَقَالَ لَيْسُوا بِثِقَةٍ فِي حَدِيثِهِمْ وَسَأَلْتُهُ عَنْ رَجُلٍ آخَرَ نَسِيتُ اسْمَهُ فَقَالَ هَلْ رَأَيْتَهُ فِي كُتُبِي قُلْتُ لَا قَالَ لَوْ كَانَ ثِقَةً لَرَأَيْتَهُ فِي كُتُبِي

د بشر بن عمر رضی الله عنه نه روايت دے. ما تپوس اوکړو د امام مالک نه د محمد بن عبد الرّحمٰن په باره کښې چه روايت کوی د سعيد بن المسيب نه هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے. او تپوس اوکړو ما د هغهٔ نه په باره د ابو الحويرث کښې هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے. او تپوس اوکړو ما د هغهٔ نه په باره د شعبه کښې چه د هغهٔ نه روايت کوی ابن ابی ذئب. هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے. او ما تپوس اوکړو د هغهٔ نه د صالح په باره کښې چه اَقا دے د توامه هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے. او ما د هغوی نه تپوس اوکړو د حرام بن عثمان په باره کښې. هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے. او تپوس م اوکړو ما د امام مالکؒ نه د هغهٔ پنځو سړو (چه د هغوی ذکر وړاندے تير شو) هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دی. او تپوس م اوکړو د يو بل سړی چه د هغهٔ نوم خمانه هير شوے وو. نو هغهٔ اووے تا د هغهٔ روايت خما په کتابونو کښې ليدلے دے؟ ما اووے چه نه امام مالک اووے کهٔ چرے هغه ثقه وے نو د هغهٔ روايت به د خما په کتابونو کښې ليدلے وو[2].

---

[1] يعنی د حديث د امامانو په چا باندے جرح کول په غيبت کښې داخل نهٔ دی. بلکه مثال ئے د فتوے او حکم دے.

[2] يعنی عبد الرّحمٰن بن معايه حويرث انصاری مدنی لره حاکم وائی هغه قوی نهٔ دے. او امام احمد رحمه الله د امام مالک رحمه الله د قول نه انکار کړے او ويلی دی چه روايت کړے ددهٔ نه شعبه. او بخاری ذکر کړے دے دهٔ لره په تاريخ کښې او خبرے ئے نهٔ دی کړی په دے کښې. او شعبه ددهٔ کنيت ابو الجوير نقل کړے دے او حاکم ويلی دی دا وهم دے د شعبه په

عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ سَعْدٍ وَكَانَ مُتَّهَمًا	ابن ابی ذئب روایت کړے دے د شرجول بن سعد نه او هغه مُتّهم دے[1]
عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ يَقُولُ لَوْ	د عبد الله بن مبارک نه روایت دے. هغه ویلی وو که ماته اختیار

تقریب کښې دی چه عبد الرّحمٰن رښتونے دے. مګر حافظه د هغهٔ خرابه وه او نسبت کړے شوے دے سره د ارجاء یعنی مرجیه کیدو. دا هغه شعبه نهٔ دے کوم چه د حدیثو لوئے امام دے مشهور. هغه خو شعبه بن حجاج بصری دی او دا شعبه بن دینار هاشمی دے د ابن عباس آقا. ددهٔ کنیت ابو عبدالله یا ابویحیٰی دے. د حدیثو ډیرو امامانو دهٔ ته ضعیف ویلے دے احمد بن حنبل او یحیٰی بن معین وائی هغه څهٔ بد نهٔ دے. ابن عدی وائی ما ددهٔ یو حدیث منکر نهٔ دے لیدلے. په تقریب کښې دی چه دا شعبه رښتونے دے مګر حافظه ددهٔ خرابه وه. دا د نبهان د مدینے د اوسیدونکی صالح خوے دے. او دهٔ ته مولی توامه وائی. ددے دپاره چه کومے ښځے دے آزاد کړے وو. هغه د خپلے خور سره یو ځائے پیدا شوے وه. امام مالک رحمه الله صالح ته ضعیف وائی. لیکن روایت کړے دے ددهٔ نه ترمذی او ابوداؤد او ابن ماجه. یحیٰی بن معین ویلی دی چه هغه ثقه دے. او مالک هغهٔ لره اوموندو هر کله چه هغه بوډا شوے وو او حافظه ئے خرابه شوے وه. دغه شان ثوری هم هغه وخت اوموندو چه هر کله هغه بوډا شوے او عقل ئے تلے وو. نو واوریدل ئے ددهٔ نه څهٔ منکر احادیث لیکن کومو خلقو چه روایت کړے دے (مخکښې د حافظے خرابیدو نه) د هغوی روایت صحیح دے. ابن عدی وائی ابن ابی ذئب ابن جریج او زیاد بن سعد ددهٔ نه اوریدلی دی مخکښې د حافظی خرابیدو نه. او د هغوی په روایاتو کښې څهٔ خراب والے نشته. دا حرام بن عثمان انصاری سلمی دے. بخاری وائی هغه منکر الحدیث دے. زبیر وائی هغه شیعه وو روایت کوی د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه. نسائی ویلی دی چه هغه ضعیف دے. ددے نه معلومه شوه چه د کومو خلقو نه امام مالک رحمه الله په خپلو کتابونو کښې روایت کړے دے هغه ټول ثقه دی. مګر دا ضروری نهٔ ده چه د تمامو خلقو په نزد ثقه دی. البته د امام مالک رحمه الله په نزد ثقه دی. او اختلاف کړے دے علماؤ په دے مسئله کښې. چه کهٔ چرے یو سړے د یو ورک سړی نه روایت اوکړی. نو د هغهٔ نه به ددغه مجهول توثیق باعث نهٔ دی. او دا صحیح ده ولے چه کله کله ثقه د غیر ثقه نه روایت کوی. نهٔ ددے وجے نه چه هغه روایت دلیل او حجت دے بلکه د اعتبار او تائید دپاره. البته هر کله چه ثقه داسے اووائی لکه څنګه چه امام مالک رحمه الله اووے نو د چا نه چه هغه په خپل کتاب کښې روایت کوی هغه به ددهٔ په نزد ثقه ګنړلے شی. او کوم ثقه چه دومره اُووائی چه ماته بیان کړے دے ثقه نو هغه پوره ده د تعدیل دپاره (نووی)

[1]: یعنی نسبت کړے شوے وو طرف د دروغوته. دا شرحبیل د مغازی لوئے عالم وو (یعنی په رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهادونو) سفیان بن عوونه وائی ددهٔ نه اوچت د غازیانو وصف کونکے څوک نهٔ وو. هغه محتاج شو نو خلقو به ددے یَرے د وجے نه هغه لره ورکړه کول. چه داسے نهٔ چه دے اُووائی چه ستا پلار د بدر په جنګ کښې حاضر نهٔ وو. او شرجیل د انصارو آقا دے. مدنی کنینت ددهٔ ابوسعد دے. محمد بن سعد وائی چه کوم لوئے او زوړ بوډا وو روایت کړے دے دهٔ د زید بن ثابت او نور د زیاتو صحابو نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم. په تقریب کښې دی چه هغه رښتونے دے لیکن په آخر کښې ئے حافظه خرابه شوے وه. چه د سلو کالو شو نو وفات شو.

خُيِّرْتُ بَيْنَ أَنْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ وَبَيْنَ أَنْ أَلْقَى عَبْدَ اللهِ بْنَ مُحَرَّرٍ لَاخْتَرْتُ أَنْ أَلْقَاهُ ثُمَّ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ فَلَمَّا رَأَيْتُهُ كَانَتْ بَعْرَةٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْهُ

راکړے شی چه جنت ته لاړ شم یا د عبد الله بن محرر سره ملاقات اوکړم نو زهٔ به وړمبے ددهٔ سره میلاویږم بیا به جنت ته ځم (داسے ئې ددهٔ تعریف اوریدلے وو او دومره ئې ددهٔ سره د میلاویدو شوق وو هرکله چه زهٔ د هغهٔ سره میلاؤ شوم نو د اُوښ یوه پَچه ماته د هغه نه غوره معلومه شوه[1].

عَنْ زَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي أُنَيْسَةَ لَا تَأْخُذُوا عَنْ أَخِي

زید بن ابی انیسه وائی چه روایت مهٔ کوئ ځما د ورور نه[2].

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ كَانَ يَحْيَى بْنُ أَبِي أُنَيْسَةَ كَذَّابًا

عبید الله بن عمرو ویلی دی یحیٰی بن انیسه دروغجن وو.

عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ ذُكِرَ فَرْقَدٌ عِنْدَ أَيُّوبَ فَقَالَ إِنَّ فَرْقَدًا لَيْسَ صَاحِبَ حَدِيثٍ

حمّاد بن زید ویلی دی د فرقد (بن یعقوب سنجی ابو یعقوب) ذکر راغے. د ایّوب په مخکښ. هغوی اووے هغه صاحب حدیث نهٔ دے[3].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بِشْرٍ الْعَبْدِيِّ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ الْقَطَّانَ ذُكِرَ عِنْدَهُ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ اللَّيْثِيُّ فَضَعَّفَهُ جِدًّا فَقِيلَ لِيَحْيَى أَضْعَفُ مِنْ

عبد ا لرّحمٰن بن بشر عبدی وائی چه ما د یحیٰی بن سعید قطان نه اوریدلی دی چه هغوی په مخکښ ذکر راغے د محمد بن عبد الله بن عبید بن عمیر لیثی. نو هغهٔ ورته ډیر ضعیف اووے. چا ورته اووے چه ولے هغه د یعقوب

---

[1] یعنی داسے بے کاره او خراب اُوختو.

[2] یعنی یحیٰی بن ابی انیسه نه چه روایت کوی د زهری او عمرو بن شعیب نه ددے دپاره چه هغه ضعیف دے. بخاری رحمه الله وائی هغه څهٔ نهٔ دے. نسائی وائی ضعیف دے متروک الحدیث دے. په تقریب کښ دی چه کنیت ددهٔ ابوزید جزری دے او هغه ضعیف دے. نووی رحمه الله وائی چه ددهٔ رور زید بن ابی انیسه ثقه دے. جلیل دے. حجّت اخستے دے ددهٔ نه بخاری او مسلم. محمد بن سعد وائی هغه ثقه دے کثیر الحدیث او فقیه دے. د محدثینو انصاف او خلوص ددهٔ نه معلومیږی چه ددین د فائدے خیال ئې ساتلو او د خپلولئ خیال ئې نهٔ ساتلو. بلکه لحاظ ئې نهٔ کولو.

[3] یعنی د حدیث روایت کول بل کار دے. فرقد لره په دے کښ دخل نهٔ وو. اگر چه هغه تابعی وو. او عابد او زاهد وو. لکه څنګه چه وړاندے تیر شو چه عبادات او زهد خانله څیز دے. او د حدیث علم ځانله. مگر د یحیٰی بن معین نه منقول دی چه هغه ثقه ویلی دی فرقد ته په تقریب کښ دی. چه روایت کړے دے ددهٔ نه ترمذی او ابن ماجه او هغه رښتونے عابد وو مگر په حدیثو کښ ضعیف دے کثیر الخطا په ۱۳۱ھ کښ وفات شو.

يَعْقُوبَ بْنِ عَطَاءٍ قَالَ نَعَمْ ثُمَّ قَالَ مَا كُنْتُ أُرَى أَنَّ أَحَدًا يَرْوِي عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ .

بن عطار نه هم زیات ضعیف دے؟ هغوی اووے آو بیانے اووے چه زۀ نه پوهیږم چه څوک د محمد بن عبید الله بن عبید بن عمیر نه روایت کوی.

عَنْ بِشْرِ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ الْقَطَّانَ ضَعَّفَ حَكِيمَ بْنَ جُبَيْرٍ وَعَبْدَ الْأَعْلَى وَضَعَّفَ يَحْيَى بْنَ مُوسَى بْنِ دِينَارٍ قَالَ حَدِيثُهُ رِيحٌ وَضَعَّفَ مُوسَى بْنَ دِهْقَانَ وَعِيسَى بْنَ أَبِي عِيسَى الْمَدَنِيَّ

د بشر بن حکم نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د یحیٰی بن سعید قطان نه (چه امام وو د حدیثو) هغوی ضعیف ویلے دے حکیم بن جبیر ته او عبد الاعلی (بن عامر ثعلبی ته) او ضعیف نے ویلی دی یحیٰی بن موسیٰ بن دینار ته او ویلی دی چه ددۀ حدیث په مثل د هوا دے. او مُوسیٰ بن دهقان لره. او عیسیٰ بن ابی عیسیٰ مدنی لره[1].

قَالَ مُسْلِمٌ وَسَمِعْتُ الْحَسَنَ بْنَ عِيسَى يَقُولُ قَالَ لِي ابْنُ الْمُبَارَكِ إِذَا قَدِمْتَ عَلَى جَرِيرٍ فَاكْتُبْ عِلْمَهُ كُلَّهُ إِلَّا حَدِيثَ ثَلَاثَةٍ لَا تَكْتُبْ حَدِيثَ عُبَيْدَةَ بْنِ مُعَتِّبٍ وَالسَّرِيِّ

امام مسلم ؒ ویلی دی . حسن بن عیسیٰ وائی ماته عبد الله بن مباک اووے. چه هر کله تۀ د جریر خواله لاړ شے نو د هغۀ ټول علم اولیکه (یعنی تمام حدیث د هغۀ روایت کړه). مګر د دریوؤ سړو احادیث مۀ لیکه د عبیده بن معتب او سرّی بن اسمٰعیل او د

---

[1] : دا حکیم بن جبیر اسدی کوفی دے.شیعه وو. ابو حاتم رازی وائی چه لوئے سخت شیعه وو. د عبد الرّحمٰن بن مهدی او شعبه نه تپوس اوشو چه تاسو د حکیم بن جبیر نه روایت کول ولے پریخودل. هغویَ اوُوے چه مونږ یریږو د جهنم نه یعنی د هغه روایتونه دروغ دی. کۀ چرے مونږ ددۀ نه نقل اوکړو نو په دوزخ کښې به واچولے شو. په تقریب کښې دی چه هغه ضعیف دے او روایت کړے ددۀ نه ترمذی او ابوداؤد او ابن ماجه. او روایت نۀ دے کړے ددۀ نه بخاری رحمه الله او مسلم رحمه الله په تقریب کښې دی چه هغه رښتونے دے.مګر وهم کوی یعنیٓ لغو او بے ثبات دے. په دے مقام کښې په تمامو نسخو کښې د یحیٰی نه پس د بن لفظ موجود دے. چه هغه یقینا غلطی ده. او صواب دادے چه د بن لفظ نۀ وی. نووی رحمه الله وائی چه دا غلطی د مسلم د کتاب نقل کونکو والا نه شوے ده. نۀ چه د مسلم رحمه الله نه. دا موسیٰ بن دینار مکی دے چه روایت کوی د سالِم نه. او کوم چه بصری دے دے روایت کوی د ابن کعب نه. په تقریب کښې دی چه دا ضعیف دے. دا عیسیٰ بن میسره دے ددۀ کنیت ابو موسیٰ دے یا ابو محمد غفاری اصل ددۀ کوفی دے. دا عیسیٰ بن میسره دے. ددۀ کنیت ابو موسیٰ دے یا ابو محمد غفاری مدنی اصل ددۀ کوفی دے. دۀ ته خیاط یا حناط یا خباط وائی. یحیٰی بن معین وائی چه وړاندے خیاط (یعنی درزی وو) بیائے دا کسب پریخودۀ حناط شو (حناط د حنطه نه دے یعنی د غنمو خرڅونکے) بیائے دے لره پروخودۀ خباط شو (یعنی پاڼے صفا کونکے) په تقریب کښې دی چه دا متروک دے.

بْنِ إِسْمٰعِيلَ وَمُحَمَّدِ بْنِ سَالِمٍ

محمد بن سالم روایتونه[1].

قَالَ مُسْلِمُ بْنُ الْحَجَّاجِ وَأَشْبَاهُ مَا ذَكَرْنَا مِنْ كَلَامِ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي مُتَّهَمِي رُوَاةِ الْحَدِيثِ وَإِخْبَارِهِمْ عَنْ مَعَايِبِهِمْ كَثِيرٌ يَطُولُ الْكِتَابُ بِذِكْرِهِ عَلَى اسْتِقْصَائِهِ وَفِيمَا ذَكَرْنَا كِفَايَةٌ لِمَنْ تَفَهَّمَ وَعَقَلَ مَذْهَبَ الْقَوْمِ فِيمَا قَالُوا مِنْ ذٰلِكَ وَبَيَّنُوا

امام مسلم وائی او ددے پشان کوم چه مونږ ذکر کړل د علم والو کلام په مهتم راویانو کښې او د هغوی په عیبونو کښې ډیر دے. چه د هغے په ټولو بیانولو سره کتاب ډیر اوږدیږی. او څومره قدرے چه مونږ بیان کړو هغه کافی دے د هغه سړی دپاره چه هغه د قوم مذهب پیژنی په هغه څهٔ کښې چه وائی دوی ددے نه او بیانوی دےلره[2].

وَإِنَّمَا أَلْزَمُوا أَنْفُسَهُمُ الْكَشْفَ عَنْ مَعَايِبِ رُوَاةِ الْحَدِيثِ وَنَاقِلِي الْأَخْبَارِ وَأَفْتَوْا بِذٰلِكَ حِينَ سُئِلُوا لِمَا فِيهِ مِنْ عَظِيمِ الْخَطَرِ إِذِ الْأَخْبَارُ فِي أَمْرِ الدِّينِ إِنَّمَا تَأْتِي بِتَحْلِيلٍ أَوْ تَحْرِيمٍ أَوْ أَمْرٍ أَوْ نَهْيٍ أَوْ تَرْغِيبٍ أَوْ تَرْهِيبٍ فَإِذَا كَانَ الرَّاوِي لَهَا لَيْسَ بِمَعْدِنٍ لِلصِّدْقِ وَالْأَمَانَةِ ثُمَّ أَقْدَمَ عَلَى الرِّوَايَةِ عَنْهُ مَنْ قَدْ عَرَفَهُ وَلَمْ يُبَيِّنْ مَا فِيهِ لِغَيْرِهِ مِمَّنْ جَهِلَ مَعْرِفَتَهُ كَانَ آثِمًا بِفِعْلِهِ ذٰلِكَ غَاشًّا لِعَوَامِّ الْمُسْلِمِينَ إِذْ لَا يُؤْمَنُ

او د حدیثو د امامانو د راویانو عیب پرانستل ضروری اوګنړل او ددے خبرے فتوے ئے ورکړه هر کله چه ددوی نه تپوس اُوشو. ددے دپاره چه دا لوئے اَهَم کار دے ولے چه ددین د خبرے هر کله چه نقل کیدے شی نو هغه د څهٔ امر د حلالیدو دپاره یا د حرامیدو دپاره وی یا په دے کښې دهٔ خبرے حکم وی یا د څهٔ خبرے ممانعت وی یا د څهٔ کار طرفته رغبت ورکول او یا د څهٔ کار نه یَره وی. بهر حال هر کله چه راوی رښتونے او امانت دار نهٔ وی بیا ددهٔ نه چه څوک روایت کوی او هغه ددهٔ په حال خبر وی. او هغه نوروته بیان نهٔ کړی چه هغهٔ ئے د حاله خبر نهٔ وی. نو ګنهګار شو او د دهوکه ورکونکو نهٔ شو. مسلمانانو عوامو لره. ددے دپاره چه بعضے خلق دے حدیثو لره آوری او په دے ټولو باندے یا په بعضو باندے عمل کوی او

---

[1] ولے چه دا تول ضعیف دی. نووی رحمه الله وائی چه دا ټول کوفیان دی. او متروک دی.

[2] یعنی دا کتاب د جرح او تعدیل کولو دپاره لږ دے چه په دے کښې د تمامو راویانو حال بیان کړے شی. بلکه د جرح او تعدیل خو لوئے لوئے کتابونه جوړ دی. چه په هغے کښې د ټولو راویانو پوره پوره حال بیان کړے شوے دے. دلته خو د څو راویانو عیب د ائمه حدیث په اقوالو سره بیان کړے شو. صرف ددے مقصد دپاره چه د اهل حدیثو په نز د راویانو عیب او سقم بیانول بد نهٔ دی. او دے لره په غیبت کښې نهٔ داخلوی.

عَلَى بَعْضٍ مَنْ سَمِعَ تِلْكَ الأَخْبَارَ أَنْ يَسْتَعْمِلَهَا أَوْ يَسْتَعْمِلَ بَعْضَهَا وَلَعَلَّهَا أَوْ أَكْثَرَهَا أَكَاذِيبُ لاَ أَصْلَ لَهَا مَعَ أَنَّ الأَخْبَارَ الصِّحَاحَ مِنْ رِوَايَةِ الثِّقَاتِ وَأَهْلِ الْقَنَاعَةِ أَكْثَرُ مِنْ أَنْ يُضْطَرَّ إِلَى نَقْلِ مَنْ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَلاَ مَقْنَعٍ

وَلاَ أَحْسِبُ كَثِيرًا مِمَّنْ يُعَرِّجُ مِنَ النَّاسِ عَلَى مَا وَصَفْنَا مِنْ هَذِهِ الأَحَادِيثِ الضِّعَافِ وَالأَسَانِيدِ الْمَجْهُولَةِ وَيَعْتَدُّ بِرِوَايَتِهَا بَعْدَ مَعْرِفَتِهِ بِمَا فِيهَا مِنَ التَّوَهُّنِ وَالضَّعْفِ إِلاَّ أَنَّ الَّذِي يَحْمِلُهُ عَلَى رِوَايَتِهَا وَالاِعْتِدَادِ بِهَا إِرَادَةُ التَّكَثُّرِ بِذَلِكَ عِنْدَ الْعَوَامِّ وَلِأَنْ يُقَالَ مَا أَكْثَرَ مَا جَمَعَ فُلاَنٌ مِنَ الْحَدِيثِ وَأَلَّفَ مِنَ الْعَدَدِ وَمَنْ ذَهَبَ فِي

شاید چه هغه ټول یا د دوی نه اکثر دروغجن وی (او په بعضو نسخو کښې داد ے چه په د ے کښې کم یا ډیر دروغجن وی) چه د هغوی اصل نۀ وی. حالانکه صحیح حدیثونه د ثقه خلقو او د هغه خلقو چه د هغو په روایت باند ے قناعت کید ے شی ولے څۀ کم وی؟ چه د ب ے اعتباره او د هغه چا په روایت باند ے چه قناعت نۀ شی کید ے د هغوی د روایتونو حاجت راغ ے[1].

او زۀ پوهیږم چه کومو خلقو دد ے قسم ضعیف حدیثونه او مجهول سندونه نقل کړی دی او په د ے کښې مصروف دی. او هغه دد ے په ضعف باند ے ښۀ پوهه دی. خو د هغوی غرض داد ے چه عوامو ته خپل زیات علم اوښائ ے. او دد ے دپاره چه خلق اووائی چه سُبۡحٰنَ الله فلانی سړی څومره زیات احادیث جمع کړی دی. او د کوم سړی چه دا چال د ے او د د ے دا طریقه ده چه دد ۀ علم په حدیث کښې څۀ نۀ شته. او هغه د جاهل ویلو زیات حقدار د ے د عالم ویلو نه[2].

---

[1] یعنی د روایت کول دپاره صحیح احادیث په زرګونو دی. بیا څۀ ضرورت د ے چه د ے لره پریږد ے او ضعیف او مُنکر او موضوع حدیثونو لره نقل کړی.

[2] ولے چه علم هغه د ے چه هغه عالمان خلق تسلیم کړی. او د جاهل نا واقفه خلقو څۀ اعتبار د ے. چه هغه اګر داسے سړی ته نۀ ویل کیږی لوئ ے عالم اووائی نو د هغوی د پوه ے نه څۀ کیږی. د حدیثو امام او فاضل همیشه داسے سړی ته چه هغه هر قسم حدیثو نه نقل کوی او په صحیح او ضعیف کښې تمیز نۀ کوی هغ ے ته جاهل او بے وقوف ویل ے د ے. او امام نووی رحمه الله د قاضی عیاض نه نقل کړی دی چه د راویانو عیب بیانول جائز دی بلکه واجب دی په اجماع د عالمانو سره په د ے واسطه چه د شریعت حفاظت ضروری اَمر د ے او دا په غیبت کښې داخل نۀ د ے. کوم چه حرام د ے. بلکه نصیحت د ے د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو مُسلمانانو دپاره. یعنی د ټولو خیر خواهی ده او همیشه د محمد رسول الله د امت فاضلان او پرهیزګار او تقویٰ خوښونکی خلق په د ے شان سره راغلی دی. لکه څنګه چه مسلم رحمه الله په د ے باب کښې د څومره بزرګانو اقوال نقل کړی دی او ما هم د بخاری د شرح په شروع کښې څۀ اقوال دد ے قسم بیان کړی

دی مگر دا امر ضروری دے چه کوم سړے د راویانو عیب بیانوی هغه دِ د خدائے نه یره کوی او په پوهه سره دِ وانی او د سُستی او ناراستی نه دِ خان ساتی. او د هغه سړی عیب دِ نهٔ بیانوی چه هغه د عیب نه پاک وی. یا د هغه عیب ښکاره شوے نهٔ وی ددے دپاره چه په جرح کولو سره هم یو مفسده پیدا کیږی. هغه دا چه ددغه راوی روایتونه د اعتبار قابل نهٔ شی پاتے کیدے او ددهٔ احادیث ټول رَد کیږی بیا کهٔ چرے جرح غلطه وه نو داسے شوه چه صحیح روایتونه او حدیثونه ئے رد کړل. ددے وجے نه جرح د داسے سړی مقبوله ده چه هغه په خپله خاوند د معرفت او مقبول القول وی. گنی د جرح کونکی جرح کول صحیح نهٔ دی. اوس دا خبره چه په جرح او تعدیل دواړو کښ د یو سړی وینا پوره ده یا د ډیرو سړو پکار ده. په دے مسئله کښ د عالمانو اختلاف دے. او صحیح داده چه د یو سړی ویل کافی دی. بیا دا خبره چه د جرح سبب بیانول ضروری دی یا نه په دے کښ هم اختلاف دے. د امام شافعی رحمه الله او د ډیرو عالمانو دا قول دے چه سبب بیانول ضروری دی . او جرح مبهم مقبوله نهٔ ده. او د قاضی ابوبکر باقلانی وغیره دا قول دے چه سبب بیانول ضروری نهٔ دی. او د بعضو دا قول دے چه کوم سړے د جرح اسباب پیژنی د هغهٔ دپاره سبب بیانول ضروری نهٔ دی. او څوک چه ئے نهٔ پیژنی د هغهٔ دپاره ضروری دی بیا د کومو خلقو په نز چه په جرح کښ د سَبب بیانول ضروری دی هغه وائی چه د جرح مبهم اثر صرف دومره قدرے کیږی چه ددے روایت به د حجت لائق نهٔ پاتے کیږی. هر کله چه ددے د جرح ثبوت یا ابطال نهٔ وی. اوس په صحیحینو کښ کوم چه بعضے داسے راویان دی چه په هغو باندے ورمبو خلقو جرح کړیده نو د هغوی جرح مبهم ده. چه ثابته شوے نهٔ ده. کهٔ چرے د یو راوی بعضے خلق جرح اوکړی او بعضے تعدیل نو قول مختار په دے باندے د جمهور علماؤ او محقیقینو دادے چه جرح مقدمه ده په تعدیل باندے. اگر کهٔ تعدیل کونکی په شمار کښ زیات وی او بعضو ویلی دی کهٔ چرے تعدیل کونکی زیات وی نو تعدیل مقدم دے مګر صحیح ورمبے قول دے. امام مسلم رحمه الله په دے باب کښ د شعبی نه نقل کړے دے چه هغوی وائی حدیث بیان کړے دے مونږ ته فلانی او هغه مُهتم وو. په دے مقام باندے دا اعتراض کیدے شی چه دغه امامانو دداسے خلقو نه ولے روایت کوو. حالانکه دوی پیژندل چه دغه خلق دروغجن او تُهمتدار دی نو ددے څو جوابونه دی یو دا چه هغوی روایت کړے دے خلقو ته د ښودنے دپاره چه ددے روایت د ضعف نه خبر شی دویم دا چه د ضعیف سړی نه په طور د استشهاد او تائید روایت کول صحیح دی.مګر یواځے ددهٔ روایت د حجت نیولو لائق نهٔ دے دریمه دا چه د ضعیف سړی ټول روایتونه دروغ نهٔ شی کیدے. نو د حدیثو امام ددهٔ روایتونو لره پیژنی او هغو لره روایت کوی او ضعیف او باطل لره پریږدی. او دا امر په هغوی باندے آسان دے. لکه چا سفیان ثوری ته اوویلے شو هر کله چه هغوی د کلبی (محمد بن سائب) روایت کولو لره منع کړل چه تهٔ ولے ددهٔ نه روایت کوے. هغوی اووے زهٔ ددهٔ دروغ او رښتیا پیژنم. څلورم دا چه اکثر د ضعیف سړو نه ترغیب او ترهیب او فضائل او قصص او زهد او د اخلاقو احادیث روایت کوی چه هغه د څهٔ شی د حلت یا حرمت سره متعلق نهٔ وی. او محدثین ددے قسم ضعیف روایتنو لره جائز کړی دی په شرط ددے چه موضوع نهٔ وی. لیکن د حدیثو امامانو د ضعیف خلقو نه د څهٔ قسم روایت کول باالانفراد جائز کړی نهٔ دی. او نه محققینو علماؤ جائز کړی دی. او دا کوم چه د بعضے فقهاؤ عادت دے چه د هر قسم روایت نقل کوی. دا څهٔ ښهٔ خبره نهٔ ده بلکه بده خبره ده. ددے دپاره چه کهٔ چرے دهٔ ته معلومه وه چه دا روایت ضعیف دے نو دلیل راوړل صحیح نهٔ وو په دے سره. ولے چه په دے خبره د ټولو علماؤ اتفاق دے. چه ضعیف حدیث د شریعت په احکامو کښ د حجت د نیولو قابل نهٔ

دے او کۀ جرے دۀ ته ددۀ ضعف معلومه نۀ وو نو هم بغیر د معلوماتو او اهل علمو د تپوس نه ددے خبرے نقل کول درست نۀ وو کاذبین یعنی د دروغو د حدیثو جوړونکو دوه قسمونه دی یو خو هغه چه د هغوی دروغ صفا ښکاره شوی دی هغه په خو قسمه دی بعضے خو داسے چه صفا جوړ وی په حضرت صلی الله علیه وسلم باندے هغه خبرے چه هغه فرمائیلی نۀ وی لکه زندیق بے دینه خلق چه د هغوی په نز د دین څۀ عظمت یا عزت نشته دے یا دے کار لره هغه ښۀ او د ثواب کار گنړی لکه بعضے جاهل د رویشان او صوفیان چه په فضائل او اخلاقو کښ خلقو ته مینے ورکولو دپاره حدیثو نه جوړ وی یا د خپل فخر او خودنے دپاره نوی او نامعلوم روایتونو سره لکه څنګه چه فاسقان خلق کوی یا په تعصب سره د خپل مذهب د ثابتولو دپاره لکه بدعتی او شیعه او قدریه او جهمیّه خذلهم الله تعالی او د اهل علمو په نز د هرے بدے طبقے خلق ددوی نه معین او معلوم شوی دی. او بعضے ددے کاذبینو نه داسے دی چه هغه دحدیثو متن لره نۀ جوړوی لیکن د هغے دپاره یو صحیح سند تراش کوی. او بعضے سند لره اُلټه پُلټه کوی. او بعضے نے زیاتوی په دروغو سره. او ددے نه مقصود خپل غوروالے ظاهرول یا خپل جهالت دفع کول وی. او بعضے په دے شان سره دروغ وائی چه د چا نه نے اوریدلی نۀ وی هغه نسبت وائی چه ما ترِ نۀ اوریدلی دی. یا د چا سره میلاؤ شوے نۀ وی. د هغه سره خپل ملاقات بیانوی او د هغه صحیح حدیث نقل کوی او بعضے داسے کوی چه د صحابی رضی الله عنه یا تابعی رحمه الله یا حکیم وینا لره دومره اوچته کړی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ترِ نه جوړه کړی ددے ټولو قسمونو خلق دروغجن دی. او د محدثینو په نز متروک دی. په دے شان سره هغه سړے چه هغه د حدیثو په روایت باندے زړه ورتیا کوی. بغیر هغے لره د تحقیق کولو اوپړتال کولو نه نو د داسے خلقو نه روایت نۀ شی کیدے ، نۀ د هغوی روایتونه قبلولے شی اگر چه صرف یو خل هغوی داسے کړی وی ولے چه هر کله یو خل نے بے احتیاطی اوکړه نو د هغوی اعتبار ختم شو. لکه دروغجن گواه چه په یو خل د دروغو د گواهئ سره د هغۀ هره گواهی د اعتبار لائقه نۀ شی پاتے کیدے. بیا کۀ چرے دغه سړے توبه کړی نو د راتلونکی ژوند په موقعه به ددۀ روایت قبلیږی لو کۀ نۀ به قبلیږی. په دے کښ اختلاف دے لیکن ظاهره دا ده چه قبلیږی به ځکه چه په توبے سره د هر قسم ټول گناهونه معاف کیږی او چا چه آئنده هم قبوله نۀ کړه د هغوی حجت دادے چه دا گناه زیات سخت دے یعنی په نبی علیه السلام باندے دروغ ویل نو ددے سزا هم سخته ورکول پکار دی. ولے چه نبی علیه السلام په خپله فرمایلی دی چه په ما باندے دروغ ویل داسے نۀ دی لکه په بل یو کس باندے دروغ ویل. دویم قسم د دروغجنو دادے چه په حدیث کښ خو هغه دغۀ قسم دروغ نۀ وائی لیکن په نورو دنیاوی خبرو کښ دروغ وائی دداسے خلقو روایت هم نۀ شی قبلیدے نۀ د هغوی گواهی قبوله ده. البته کۀ چرے توبه کړی نو قبلیدے شی. هله کۀ یو نیم دروغ ددنیا په خبرو کښ وائی او هغه په دروغو کښ معلوم او مشهور نۀ وی. نو ددۀ روایت به قبلیږی. ولے چه احتمال دے چه ددۀ نه غلطی شوی ده یا وهم شوے دے او بل هغه چه پخپله د یو خل دروغو ویلو اقرار اوکړی په شرط ددے چه ددۀ د دروغونه چا مسلمان ته نقصان نۀ وی رسیدلے او بیا توبه کړی نو هم به ددۀ روایت قبلیدے شی ولے چه دا نامناسبه ده او په هغه گناهونو کښ نۀ دے چه هغه انسان لره هلاکوی او ددے قسم خطاگانے د ډیرو خلقو نه راتللے شی دغه شان حکم دے د هغه دروغو چه هغه په طریقه د تعریض او یا د طوریه وی ولے چه هغه په حقیقت کښ دروغ نۀ دی اگر چه په صورت کښ دروغ دی لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوالجهم لره چه هغه خپله لختہ د اوږے نه په زمکه باندے نۀ اږدی (یعنی اکثر ماره داره کوی). دغه شان خو ابراهیم

الْعِلْمِ هٰذَا الْمَذْهَبَ وَسَلَكَ هٰذَا الطَّرِيقَ فَلَا نَصِيبَ لَهُ فِيهِ وَكَانَ بِأَنْ يُسَمّٰى جَاهِلًا أَوْلٰى مِنْ أَنْ يُنْسَبَ إِلٰى عِلْمٍ

بَابُ صِحَّةِ الِاحْتِجَاجِ بِالْحَدِيثِ الْمُعَنْعَنِ إِذَا أَمْكَنَ لِقَاءُ الْمُعَنْعِنِينَ وَلَمْ يَكُنْ فِيهِمْ مُدَلِّسٌ

باب : په معنعن حدیث سره حجت نیول صحیح دی هر کله چه د معنعن والاؤ ملاقات ممکن وی او په دوی کښې څوک تدلیس کولو والائه وی[1]

علیه السلام هم کړی دی چه خپلے بی بی لره نے خور اوښودله . دا توریه چه په نظر د مصلحت وی صحیح ده. ختم کلام د قاضی عیاض (نووی)

[1] معنعن هغه حدیث ته وائی چه د هغے په اسناد کښې فلان عن فلان عن فلان وی. یعنی فلانی د فلانی نه او هغه د فلانی نه روایت کړے دے چونکه په داسے اسناد کښې راوی داسے نهٔ شی ویلے چه ما د فلانی نه اوریدلی دی یا هغه ما ته بیان کړے دے نو شبه پاتے کیږی چه یو د بل نه اوریدلی دی یا نه. داسے نه وی چه په مینځ کښې څهٔ راوی پاتے شوے وی. په دے واسطه د معنعن حدیث په حجت کیدو کښې د عالمانو اختلاف دے. د بعضو دا قول دے چه کهٔ چرے یو راوی د بل راوی زمانه موندلی وی او د هغهٔ ملاقات د هغهٔ سره ممکن وی. نو روایت به محمول وی په اتصال باندے او حجت به وی. د امام مسلم رحمه الله دا مذهب دے. او په دے باب کښې نے دے دپاره ثابت کړے دے. او بعضے دا وائی چه صرف د ملاقات ممکن کیدل کافی نهٔ وی بلکه ضروری ده چه د کم نه کم یو خل د دغه راوی د دویم راوی سره ملاقات ثابت شی امام مسلم رحمه الله علیه وائی چه دا قول د اعتبار لائق نه دے او بالکل نوے مذهب دے. چه په اهل علمو کښې چا اختیار کړے نهٔ دے او بدعت دے بیا علماؤ دے قول لره اختیار کړے دے او د مسلم رحمه الله مذهب لره نے ضعیف کړے دے علی بن المدینی او بخاری او یو جماعت د علماؤ د مسلم رحمه الله په مخالفت کښې دی. بلکه بعضو ددے نه زیات نور شرطونه هم کړے دی چه ددے راوی د دویم راوی سره ملاقات معلوم او مشهور شوے وی او په دوی کښې د یو بل سره صحبت پاتے شوے وی. مګر ابن مدینی رحمه الله او بخاری رحمه الله چه کوم قول اختیار کړے دے دغه صحیح دے چه کم نه کم یو خل ملاقات ثابت شوے وی نو روایت به متصل ګڼړلے شی ولے چه د راوی حال معلوم دے چه ددهٔ عادت د تدلیس نه دے د تدلیس معنی ده (پټول) او د محدثینو په اصطلاح کښې تدلیس دے ته وائی چه روایت کونکے خپل شیخ لره د چا نه چه نے حدیث اوریدلے وی پټ کړی او د هغهٔ د پاسه د روایت کونکی نوم واخلی. ددے دپاره چه خلقو ته معلومه شی چه دهٔ ددهٔ نه اوریدلے دے او دا عادت د بعضے محدثینو وو چه د هغوی حال معلوم شوے دے چه هغو د خپلو اوچتو اسنادو د خودلو دپاره یا د څهٔ ادنی سړی نه په روایت کولو کښې به نے د شرم په وجه سره تدلیس کولو بیا کهٔ چری داسے تدلیس کونکی راوی په معنعن حدیث کښې وی نو هلته به یو خل ملاقات کیدل یا ملاقات ممکن کیدل د چا په نزد د حدیث د متصل کیدلو دپاره

وَقَدْتَكَلَّمَ بَعْضُ مُنْتَحِلِي الْحَدِيْثِ مِنْ اَهْلِ عَصْرِنَا فِيْ تَصْحِيْحِ الْأَسَانِيْدِ وَتَسْقِيْمِهَا بِقَوْلٍ لَوْ ضَرَبْنَا عَنْ حِكَايَتِهٖ وَذِكْرِ فَسَادِهٖ صَفْحًا لَكَانَ رَأْيًا مَتِيْنًا وَمَذْهَبًا صَحِيْحًا اِذِالْاِعْرَاضُ عَنِ الْقَوْلِ الْمُطَّرَحِ اَحْرٰى لِاِمَاتَتِهٖ وَاِخْمَالِ ذِكْرِ قَائِلِهٖ وَ اَجْدَرُ اَنْ لَّا يَكُوْنَ ذٰلِكَ تَنْبِيْهًا لِلْجُهَّالِ عَلَيْهِ غَيْرَاَنَّا لَمَّا تَخَوَّفْنَا مِنْ شُرُوْرِ الْعَوَاقِبِ وَ اغْتِرَارِ الْجَهَلَةِ بِمُحْدَثَاتِ الْاُمُوْرِ وَاِسْرَاعِهِمْ اِلٰى اعْتِقَادِ خَطَاِ الْمُخْطِئِيْنَ وَالْاَقْوَالِ السَّاقِطَةِ عِنْدَ الْعُلَمَآءِ رَاَيْنَا الْكَشْفَ عَنْ فَسَادِ قَوْلِهٖ وَرَدِّمَقَالَتِهٖ بِقَدْرِ مَا يَلِيْقُ بِهَا مِنَ الرَّدِّ اَجْدٰى عَلَى الْاَنَامِ وَاَحْمَدَ لِلْعَاقِبَةِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ۔

امام مسلم ؒ فرمائی چه زمونږ په زمانه کښې بعضے دسے خلق چه هغوی په دروغه سره د خپله خانه پخپله محدث جوړ کړی دی د اسنادو په صحت او سقم کښې یو قول بیان کړے دے کۀ چرے مونږ بالکل دے لره نقل نۀ کړو او دے ابطال اونۀ لیکو نو مزیدار تجویز به شی او صحیح لاره به شی. ددے دپاره چه د غلطے خبرے په طرف التفات نۀ کول ددے د ورکولو دپاره ددے د ویونکی والانوم ورکلو غوره دی. او مناسب دی د جاهلانو دپاره چه هغوی ته خبر هم نۀ وی ددے غلطے خبرے مگر ددے وجے نه چه مونږ د انجام د بدوالی نۀ یریږو. او دا خبره وینو چه جاهل په نوی خبره باندے عاشقان کیږی. او په غلطه خبره باندے زر اعتقاد راخی. چه د عالمانو په نز ساقط الاعتبار وی. مونږ ددے قول غلطی بیانول او دے لره رد کول څنگه چه پکار وو د خلقو دپاره غوره او بهترین خیال اوکړو. او ددے انجام به هم نیک وی. کۀ الله عزوجل غواړی.

کافی نۀ وی. د کومے پورے چه صفا معلومه نۀ شی چه په حقیقت کښې مدلس راوی ملاقات او صحبت د دویم راوی سره شوے وو. بعضو دا ویلی دی چه معنعن روایت بالکل په څۀ صورت کښې د حجت لائق نۀ دے. مگر دا قول مردود دے په اجماع د سلف دے لره چا اختیار کړے نۀ دے(نووی سره د زیاده) نووی رحمه الله ددے باب ترجمے لره په دے شان سره قائمه کړے ده لکه څنگه چه پورته اولیکلے شوه. لیکن په نسخه مطبوعه کلکته کښې دا باب داسے لیکلے دے. بَابُ مَا تَصِحُّ بِهٖ رِوَايَتُ الرُّوَاةِ بَعْضِهِمْ عَنْ بَعْضٍ وَالتَّنْبِيْهِ عَلٰى مَنْ غَلَطَ فِيْ ذٰلِكَ یعنی باب دے په بیان ددے خبرے چه ولے صحیح کیږی روایت د یو راوی د دویم راوی سره. او بیان ددے غلطۍ چه خلقو په دے مقام باندے کړے دے. اگر چه دا ترجمه هم بده نۀ ده خو امام نووی رحمه الله کړیده هغه زیاته مناسب او اولی ده. په دے واسطه مونږ دے لره اختیار کړه او وجه ددے اختلاف دغه ده چه کومه وړاندے تیره شوه. چه امام مسلم رحمه الله پخپله د باب ترجمے لیکلی نۀ دی. خلقو د هغۀ نه ورستو لیکلی دی. بیا هر یو په مناسب نظر سره په خپل رائے سره بابونه قایم کړی دی. مونږ چه کومه ترجمه زیاته مناسب گڼړو هغه به لیکو

وَزَعَمَ الْقَائِلُ الَّذِي افْتَتَحْنَا الْكَلَامَ عَلَى الْحِكَايَةِ عَنْ قَوْلِهِ وَالْإِخْبَارِ عَنْ سُوءِ رَوِيَّتِهِ أَنَّ كُلَّ إِسْنَادٍ لِحَدِيثٍ فِيهِ فُلَانٌ عَنْ فُلَانٍ وَقَدْ أَحَاطَ الْعِلْمُ بِأَنَّهُمَا قَدْ كَانَا فِي عَصْرٍ وَاحِدٍ وَجَائِزٌ أَنْ يَكُونَ الْحَدِيثُ الَّذِي رَوَى الرَّاوِي عَمَّنْ رَوَى عَنْهُ قَدْ سَمِعَهُ مِنْهُ وَشَافَهَهُ بِهِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا نَعْلَمُ لَهُ مِنْهُ سَمَاعًا وَلَمْ نَجِدْ فِي شَيْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ أَنَّهُمَا الْتَقَيَا قَطُّ أَوْ تَشَافَهَا بِحَدِيثٍ أَنَّ الْحُجَّةَ لَا تَقُومُ عِنْدَهُ بِكُلِّ خَبَرٍ جَاءَ هَذَا الْمَجِيءَ حَتَّى يَكُونَ عِنْدَهُ الْعِلْمُ بِأَنَّهُمَا قَدِ اجْتَمَعَا مِنْ دَهْرِهِمَا مَرَّةً فَصَاعِدًا أَوْ تَشَافَهَا بِالْحَدِيثِ بَيْنَهُمَا أَوْ يَرِدَ خَبَرٌ فِيهِ بَيَانُ اجْتِمَاعِهِمَا أَوْ تَلَاقِيهِمَا مَرَّةً مِنْ دَهْرِهِمَا فَمَا فَوْقَهَا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ عِلْمُ ذَلِكَ وَلَمْ تَأْتِ رِوَايَةٌ صَحِيحَةٌ تُخْبِرُ أَنَّ هَذَا الرَّاوِيَ عَنْ صَاحِبِهِ قَدْ لَقِيَهُ مَرَّةً وَسَمِعَ مِنْهُ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ فِي نَقْلِهِ الْخَبَرَ عَمَّنْ رَوَى عَنْهُ عِلْمُ ذَلِكَ وَالْأَمْرُ كَمَا وَصَفْنَا حُجَّةٌ وَكَانَ الْخَبَرُ عِنْدَهُ مَوْقُوفًا حَتَّى يَرِدَ عَلَيْهِ سَمَاعُهُ مِنْهُ بِشَيْءٍ مِنَ الْحَدِيثِ قَلَّ أَوْ كَثُرَ فِي رِوَايَةٍ مِثْلَ مَا وَرَدَ

وَهَذَا الْقَوْلُ يَرْحَمُكَ اللَّهُ فِي الطَّعْنِ فِي الْأَسَانِيدِ قَوْلٌ مُخْتَرَعٌ مُسْتَحْدَثٌ غَيْرُ مَسْبُوقٍ صَاحِبُهُ إِلَيْهِ وَلَا مُسَاعِدَ لَهُ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ عَلَيْهِ وَذَلِكَ أَنَّ الْقَوْلَ الشَّائِعَ الْمُتَّفَقَ عَلَيْهِ بَيْنَ أَهْلِ الْعِلْمِ

او هغه سړے د چا د قول نه چه مونږ خبرے اترے شروع کړے. او د هغهٔ فکر او خیال ته چه مونږ باطل اووے دا گمان کړے دے چه کوم اسناد داسے وی چه په هغے کښې فلان نٔ فلان وی. او دا خبره معلومه شوه چه هغه دواړه په یوه زمانه کښې وو او ممکنه ده چه دا حدیث یو ه بل نه اوریدلے وی او ددهٔ سره یو خائے شوی وی. مگر مونږ ته دا معلومه نهٔ شوه چه دهٔ د هغهٔ نه اوریدلے دے. نه مونږ په څهٔ روایت کښې ددے خبرے تصریح اوموندہ. چه هغه دواړه یو خائے شوی وو. او په هغوی کښې خله په خله خبرے اترے شوے وے نو د داسے اسنا دنه چه کوم حدیث روایت کړے شی هغه حجت نهٔ دے د کومے پورے چه دا خبره معلومه نهٔ وی. چه کم نه کم هغه دواړه په خپل عمر کښې یو ځل میلاؤ شوی وو. او یو د بل سره خبرے اترے کړے وے. یا داسے یو حدیث روایت کړے شی. چه په هغے کښې ددے امر بیان وی چه ددے دواړو ملاقات یو ځل یا ډیر ځلے شوے وو. که چرے ددے خبرے علم نهٔ وی او نه هغه حدیث داسے روایت کړے شی. چه په هغے سره د ملاقات او سماع ثبوت وی نو داسے حدیث نقل کول چه د هغے د ملاقات علم نهٔ وی په داسے حالت کښې حجت نهٔ دے. او هغه حدیث به موقوف وی تر دے پورے چه ددے دواړو سماع لږه یا ډیره د دویم روایت نه معلومه شی.

او دا قول د اسنادو په باب کښې خدائے د په تا رحم اوکړی یو نوے ایجاد کړے شوے دے. چه هغه وړاندے چا نهٔ دے ویلے نهٔ د حدیثو عالمانو ددے موافقت کړے دے ددے دپاره چه مشهور مذهب چه په هغے باندے د اهل علمو اتفاق دے د وړمبو او وروستو هغه دادے. چه هر کله یو ثقه سړے د بل ثقه سړی نه

بالأخبار والروايات قديمًا وحديثًا أنّ كلّ رجل ثقة روى عن مثله حديثًا وجائزٌ ممكنٌ له لقاؤه والسماع منه لكونهما جميعًا كانا في عصر واحد وإن لم يأت في خبر قطّ أنّهما اجتمعا ولا تشافها بكلام فالرواية ثابتة والحجّة بها لازمة إلّا أن يكون هناك دلالة بيّنة أنّ هذا الراوي لم يلق من روى عنه أو لم يسمع منه شيئًا فأمّا والأمر مبهم على الإمكان الذي فسّرنا فالرواية على السماع أبدًا حتّى تكون الدلالة التي بيّنّا

فيقال لمخترع هذا القول الذي وصفنا مقالته أو للذابّ عنه قد أعطيت في جملة قولك أنّ خبر الواحد الثقة عن الواحد الثقة حجّة يلزم به العمل ثمّ أدخلت فيه الشرط بعد فقلت حتّى نعلم أنّهما قد كانا التقيا مرّة فصاعدًا أو سمع منه شيئًا فهل تجد هذا الشرط الذي اشترطته عن أحد يلزم قوله وإلّا فهلمّ دليلًا على ما زعمت فإن ادّعى قول أحد من علماء السلف بما زعم من إدخال الشريطة في تثبيت الخبر طولب به ولن يجد هو ولا غيره إلى إيجاده سبيلًا وإن هو ادّعى فيما زعم دليلًا يحتجّ به

روایت اوکړی د یو حدیث او ددے دوارو ملاقات جائز او ممکن وی (په اعتبار د سن او د عمر) په دے وجه سره چه هغه دواړه په یوه زمانه کښې موجود وو. اګر چه په څۀ حدیث کښې ددے خبرے تصریح نه وی چه هغه دواړه میلاؤ شوی وو یا په دوی کښې مخامخ خبرے اترے شوے وے. نو هغه حدیث حجت دے او هغه روایت ثابت دے. البته کۀ چرے ددے امر هلته څۀ واضح دلیل وی. چه په حقیقت کښې دا راوی د دویم راوی سره نه دے میلاؤ شوے او د هغۀ نه ئے څۀ نۀ دی اوریدلی نو هغه حدیث به حجت نۀ وی. لیکن د کومے پورے چه دا امر مبهم وی (یعنی ګول مول او څۀ دلیل د اوریدو او د میلاویدو نۀ وی) نو صرف د ملاقات ممکن کیدل به کافی نۀ وی. او هغه روایت به په سماع باندے باره ولے شی.

بیا چه کوم سړی دا قول راویستلے دے. یائے د دے حمایت کړے دے. ددۀ سره دا ګفتګو کولے شی. چه پخپله ستا د تول کلام نه دا خبره راووته چه د یو ثقه سړی روایت د دویم ثقه سړی نه حجت دے. چه په هغے باندے عمل کول واجب دی. بیا تا په خپله یو شرط ورستو سیوا کړو چه هر کله دا خبره معلومه شی چه هغه دواړه په خپل عمر کښې یو ځل میلاؤ شوی وو. یا زیات او یو د بل نه اوریدلی وو. اُوس ددے شرط ثبوت د چا داسے سړی د قول نه موندلی دی. چه د هغے منل ضروری وی کۀ چرے داسے قول نۀ دے نو بل څۀ دلیل په خپلے دعوے باندے راوړه. کۀ چرے هغه دا اُووائی چه په دے باب کښې د سلف قول دے. یعنی ددے شرط د ثبوت دپاره به تۀ چرته ځے کوم ځائے دے ؟ لا! بیا به نۀ دۀ ته څۀ قول میلاویږی او نۀ چا بل ته. او کچرے هغه بل څۀ دلیل قائمول

قِيلَ لَهُ وَمَا ذَاكَ الدَّلِيلُ

فَإِنْ قَالَ قُلْتُ لِأَنِّي وَجَدْتُ رُوَاةَ الْأَخْبَارِ قَدِيمًا وَحَدِيثًا يَرْوِي أَحَدُهُمْ عَنِ الْآخَرِ الْحَدِيثَ وَلَمَّا يُعَايِنْهُ وَلَا سَمِعَ مِنْهُ شَيْئًا قَطُّ فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ اسْتَجَازُوا رِوَايَةَ الْحَدِيثِ بَيْنَهُمْ هَكَذَا عَلَى

غواړی نو تپوس به کولے شی چه هغه دلیل څه دے؟[1]

بیا که چرے دا سړے دا اووائی چه ما دا مذهب دد ے دپاره اختیار کړے دے. چه ما د حدیثو تولو مخکښن او ورستو راویانو لره اولیدل چه د یو بل نه حدیث روایت کوی. حالانکه یو بل نه دے لیدلے او نهٔ ئے اوریدلی دی. نو هر کله چه ما اولیدل چه هغوی جائز

---

[1] په دے مقام باندے امام مسلم رحمه الله یوه لویه ضروری قاعده د شرع بیان کړه هغه دا عمل کول په خبر واحد باندے علماؤ ویلی دی چه حدیث یعنی خبر په دوه قسمه دے. یو متواتر . یو احاد، متواتر هغه دے چه د هغے روایت کونکی دومره سړی وی. چه د هغے تولو دروغجن کیدل د عقل په نز محال معلومیږی. او په هره طبقه کښں دد ے راوی په دے کثرت سره وی. دد ے قسم روایت نه خو علم هم حاصلیږی. یعنی یقین او په دے باندے عمل هم واجبیږی. خبر احاد هغه دے چه هغے لره په هره طبقه کښں دد ے قسم راویانو نقل کړے نهٔ وی خواه کهٔ یو راوی نقل کړے وی یا زیاتو اگر چه په بعضو طبقو کښں دد ے راویان په کثرت سره وی مثلا یو صحابی رضی الله عنه یو حدیث لره روایت کړے دے او بیا ډیرو تابعینو رحمهم الله د دغه صحابی رضی الله نه اوریدلی دے. اگر چه هغه حدیث به مشهور وی. خو په خبر احاد کښں داخل دے. د خبر احاد په حکم کښں د عالمانو اختلاف دے. مگر جمهور اهل اسلام صحابه رضی الله او تابعین رحمهم الله او د هغوی نه پس او محدثینو . فقهاؤ او عالمانو مذهب داد ے. چه د خبر واحد راوی کهٔ چرے ثقه وی نو حجت دے. او دد ے نه ظن حاصلیږی. اگر چه یقین څنګه د متواتر نه حاصلیږی نهٔ شی حاصلیدے. او په دے باندے عمل کول واجب دی. دد ے په مقابله کښں قیاس او رائے لره پریخودل پکار دی. او کهٔ چرے په خبر احاد باندے عمل واجب نهٔ شی نو تول د حدیثو علم بے کاره کیږی. ولے چه متواتر احادیث د یو یا دوؤ نه زیات نشته دے. تول احاد دی. بیا سوا د قرآن نه څهٔ باقی نهٔ پاتے کیدل او د قدریه ؤ او رافضیه ؤ دا قول دے چه په خبر واحد باندے عمل واجب نهٔ دے. او د بعضے اهل حدیثو قول داد ے چه خبر واحد د علم او عمل دواړو موجب دے. په مثل د خبر متواتر دد ے دپاره چه راوی ثقه او معتبر دے. او بعضو قول داد ے چه د بخاری رحمه الله او مسلم رحمه الله احاد حدیثو نه علم لره موجب دی. او عمل لره هم. د باقی کتابونو احاد حدیثونه صرف عمل لره موجب دی. مگر دا تول اقوال ضعیف دی. او صحیح هغه دے کوم چه وړاندے بیان شو چه په خبر واحد باندے عمل واجبیږی. او دد ے نه علم یعنی یقین نهٔ شی حاصلیدے. په دے واسط په اعتقاداتو کښں په خبر واحد باندے بروسه نهٔ شی کیدے. البته کهٔ چرے خبرونه د احاد ډیر وی. چه د هغے نه یو مشترک مضمون پیدا کیدےشی نو هغه مضمون په متواتر کیدےشی. او داسے حدیث نه متواترُ المَعنی وائی. په دے کښں اگر چه د هر حدیث الفاظ متواتر نهٔ دی بیا هم دد ے تولو حاصل مضمون به متواتر خیال کولے شی. او په دے باندے یقین کول لازم دی. شفاعت او علامات قیامت او ظهور مهدی او اکثر د اعتقاداتو مطابق مضامین دد ے قسم دی. چه د هغے مضامین په مختلفو حدیثونو او روایتونو سره متواتر شوی دی

الْإِرْسَالِ مِنْ غَيْرِ سَمَاعٍ وَالْمُرْسَلُ مِنَ الرِّوَايَاتِ فِي أَصْلِ قَوْلِنَا وَقَوْلِ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالْأَخْبَارِ لَيْسَ بِحُجَّةٍ احْتَجْتُ لِمَا وَصَفْتُ مِنَ الْعِلَّةِ إِلَى الْبَحْثِ عَنْ سَمَاعِ رَاوِي كُلِّ خَبَرٍ عَنْ رَاوِيهِ فَإِذَا أَنَا هَجَمْتُ عَلَى سَمَاعِهِ مِنْهُ لِأَدْنَى شَيْءٍ ثَبَتَ عَنْهُ عِنْدِي بِذَلِكَ جَمِيعُ مَا يَرْوِي عَنْهُ بَعْدُ فَإِنْ عَزَبَ عَنِّي مَعْرِفَةُ ذَلِكَ أَوْقَفْتُ الْخَبَرَ وَلَمْ يَكُنْ عِنْدِي مَوْضِعَ حُجَّةٍ لِإِمْكَانِ الْإِرْسَالِ فِيهِ

کړی دی مرسل لره روایت کول بغیر د سماع نه او مرسل روایت زمونږه او د عالمانو په نزد باندے حجت نۀ دے. نو حاجت پریوتو ماته د راوی د سماع او د لیدلو چه هغې لره هغه روایت کوی د بل نه بیا کۀ چرے ماته چرته لره هم ثابته شوه. چه دۀ اوریدلی دی د دویم راوی نه نو دۀ ټول روایتونه دد ے سره صحیح شول. او کۀ چرے بالکل ماته معلوم نۀ شو چه دۀ دۀ نه اوریدلی دی نو زۀ به روایت لره موقوف او ساتم. او خما په نزد به هغه روایت حجت نۀ وی دد ے دپاره چه ممکن دی دد ے مرسل کیدل (دلیل شو د مخالف اوس دد ے جواب وراندے ذکر کیږی).[1]

فَيُقَالُ لَهُ فَإِنْ كَانَتِ الْعِلَّةُ فِي تَضْعِيفِكَ الْخَبَرَ وَتَرْكِكَ الِاحْتِجَاجَ بِهِ إِمْكَانَ الْإِرْسَالِ فِيهِ لَزِمَكَ أَنْ لَا تُثْبِتَ إِسْنَادًا مُعَنْعَنًا حَتَّى تَرَى فِيهِ السَّمَاعَ مِنْ أَوَّلِهِ إِلَى آخِرِهِ وَذَلِكَ أَنَّ الْحَدِيثَ الْوَارِدَ عَلَيْنَا بِإِسْنَادِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ فَبِيَقِينٍ نَعْلَمُ أَنَّ هِشَامًا قَدْ سَمِعَ مِنْ

نو دۀ ته به ویلے شی کۀ چرے ستا په نزد حدیث لره د ضعیف کولو او هغې لره د حجت نۀ ګنړلو علت صرف د ارسال ممکن کیدل دی (لکه دۀ پخپله ویلی دی چه هر کله سماع ثابته نۀ وی نو هغه روایت به حجت نۀ وی. ولے چه ممکن دی دد ے مرسل کیدل) نو لازمیږی چه ته څۀ اسناد معنعن لره او نۀ منے د کومے پورے چه د اول نه د آخره پورے په هغې کښ تصریح نۀ وی د سماع. (یعنی هر راوی د دویم راوی نه داسے روایت اوکړی چه ما دۀ نه اوریدلی دی، مثلا

[1] مرسل وائی هغه روایت ته چه دهغے په اسنا د کښ اتصال نۀ وی. یعنی یو راوی نے په مینځ کښ پاتے شوے وی. مثلا تابعی رحمه الله دا اوونی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. او هغه صحابی رضی الله عنه ذکر نۀ کړی د چا نه چه دے تابعی اوریدلی دی. منقطع او معضل هم دد ے قسمونه دی. مګر منقطع هغه روایت ته ویلے شی چه هغه تبع تابعی د صحابی نه روایت کړی. یا د لاندے راویانو نه یو راوی پاتے شی. او معضل هغه دے چه هغې کښ دوه راویان پاتے شوے وی. د مرسل حدیث په قبلولو کښ د عالمانو ډیر اختلاف دے. مشهور مذهب دے چه هغه حجت نۀ دے او دا قول دے د یو جماعت د فقهاؤ او د امام شافعی رحمه الله او د امام مالک رحمه الله او ابو حنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله او د اکثرو فقهاؤ قول دادے چه مرسل روایت حجت دے هر کله چه ددغه روایت راوی ثقه وی

أَبِيهِ وَأَنَّ أَبَاهُ قَدْ سَمِعَ مِنْ عَائِشَةَ كَمَا نَعْلَمُ أَنَّ عَائِشَةَ قَدْ سَمِعَتْ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ يَجُوزُ إِذَا لَمْ يَقُلْ هِشَامٌ فِي رِوَايَةٍ يَرْوِيهَا عَنْ أَبِيهِ سَمِعْتُ أَوْ أَخْبَرَنِي أَنْ يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَبِيهِ فِي تِلْكَ الرِّوَايَةِ إِنْسَانٌ آخَرُ أَخْبَرَهُ بِهَا عَنْ أَبِيهِ وَلَمْ يَسْمَعْهَا هُوَ مِنْ أَبِيهِ لَمَّا أَحَبَّ أَنْ يَرْوِيَهَا مُرْسَلًا وَلَا يُسْنِدَهَا إِلَى مَنْ سَمِعَهَا مِنْهُ وَكَمَا يُمْكِنُ ذَلِكَ فِي هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ فَهُوَ أَيْضًا مُمْكِنٌ فِي أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ وَكَذَلِكَ كُلُّ إِسْنَادٍ لِحَدِيثٍ لَيْسَ فِيهِ ذِكْرُ سَمَاعِ بَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ وَإِنْ كَانَ قَدْ عُرِفَ فِي الْجُمْلَةِ أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ قَدْ سَمِعَ مِنْ صَاحِبِهِ سَمَاعًا كَثِيرًا فَجَائِزٌ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ أَنْ يَنْزِلَ فِي بَعْضِ الرِّوَايَةِ فَيَسْمَعَ مِنْ غَيْرِهِ عَنْهُ بَعْضَ أَحَادِيثِهِ ثُمَّ يُرْسِلَهُ عَنْهُ أَحْيَانًا وَلَا يُسَمِّي مَنْ سَمِعَ مِنْهُ وَيَنْشَطَ أَحْيَانًا فَيُسَمِّي الرَّجُلَ الَّذِي حَمَلَ عَنْهُ الْحَدِيثَ وَيَتْرُكَ الْإِرْسَالَ

کوم حدیث چه مونږ ته رارسیدلی دے د هشام په روایت سره هغه د خپل پلار عُروه نه او هغه د حضرت عائشے رضی الله عنها نه اوریدلی دی. څنګه چه مونږ دے خبرے لره په یقین سره منو چه حضرت عائشے رضی الله عنها د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی. باوجود ددے احتمال دے چه کۀ چرے په څۀ روایت کښې هشام داسے اونۀ وائی چه ما د عُروه نه اوریدلی دی یا عُروه ما ته خبر راکړے دے (بلکه صرف عَن عُروه اووائی) نو د هشام او عروه په مینځ کښې یو بل سړے دے چه هغه د عروه نه اوریدلی او هشام ته ئے خبر ورکړے وی. او پخپله هشام د خپل پلار نه دے روایت لره نۀ وی اوریدلے. لیکن هشام دے لره مرسلا روایت کول او غوښتل. او د چا په ذریعه چه ئے اوریدلے د هغۀ ذکر مناسب نۀ دے. او څنګه چه دا احتمال د هشام او عروه په مینځ کښې دے. دغه شان د عروه او حضرت عائشے په مینځ کښې کیدے شی. په دے شان په هر یو اسناد کښې چه په هغے کښې د سماع تصریح نشته اگر کۀ دا خبره معلومه شی چه یو د بل نه ډیر روایتونه اوریدلی دی. مگر دا کیدے شی چه بعض روایتونه ئے ددۀ نه نۀ وی اوریدلی. بلکه د چا بل چا په ذریعه ئے اوریدلی وی او دے لره ئے مرسلا نقل کړی وی او د چا په ذریعه چه ئے اوریدلی د هغۀ نوم نۀ دے اخستے. او کله ددے اجمال رفع کولو دپاره ئے د هغۀ نوم هم ورکړے دے. او ارسال ئے پریخودے دے[1]

---

[1] حاصل د جواب دادے چه هر کله احتمال د ارسال د حدیث د حجت نه کیدو دپاره کافی شی. نو احتمال خو هلته هم موجود دے کوم ځائے چه دیو راوی ملاقات د بل راوی سره ثابت شی. ولے چه د ملاقات کیدل د دے خبرے لره مستلزم نه

وَمَا قُلْنَا مِنْ هٰذَا مَوْجُودٌ فِي الْحَدِيثِ مُسْتَفِيضٌ مِنْ فِعْلِ ثِقَاتِ الْمُحَدِّثِينَ وَأَئِمَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ وَسَنَذْكُرُ مِنْ رِوَايَاتِهِمْ عَلَى الْجِهَةِ الَّتِي ذَكَرْنَا عَدَدًا يُسْتَدَلُّ بِهَا عَلَى أَكْثَرِ مِنْهَا إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى فَمِنْ ذٰلِكَ أَنَّ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيَّ وَابْنَ الْمُبَارَكِ وَوَكِيعًا وَابْنَ نُمَيْرٍ وَجَمَاعَةً غَيْرَهُمْ رَوَوْا عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحِلِّهِ وَلِحِرْمِهِ بِأَطْيَبِ مَا أَجِدُ فَرَوَى هٰذِهِ الرِّوَايَةَ بِعَيْنِهَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ وَدَاوُدُ الْعَطَّارُ وَحُمَيْدُ بْنُ الْأَسْوَدِ وَوُهَيْبُ بْنُ خَالِدٍ وَأَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُثْمَانُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ

امام مسلم رحمة الله علیه فرمائی چه دا احتمال کوم چه مونږ بیان کړو (صرف فرضی او خیالی نه دے) بلکه موجود دے په حدیث کښی او جاری دے د ډیرو ثقه ؤ محدثینو په روایتونو کښی مونږ لږ شان داسے روایتونه بیانوؤ که خدائے اوغواړی نو په دے سره به دلیل پوره شی په ډیر روایتونو باندے. ورمبے روایت هغه دے. کوم چه ایّوب سختیانی او ابن مبارک او وکیع او ابن نمیر او یو تولی سیوا د دوی نه د هشام نه نقل کړے دے. هغه د خپل پلار عروه نه او هغه د حضرت عائشے رضی الله عنها نه چه ما به خوشبوئی لګوله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احرام پرانستو په وخت. او د احرام تړلو په وخت چه څومره به زیاته ماته مزیداره میلاویده. دے روایت لره بعینه لیث بن سعد او داؤد عطار او حمید بن اسود او وهیب بن خالد او ابو اسامه د هشام نه روایت کړے دے. هشام وائی خبر راکړے دے ماته عثمان بن عروه او هغه د عروه نه او هغه د حضرت عائشے رضی الله عنها او هغے د

دی چه تمام حدیثونه ددهٔ روایت کړی شوی پخپله ددهٔ نه اوریدلی وی. جائز دی چه څهٔ ددهٔ نه پخپله واوری او څهٔ د نورو خلقو په واسطه سره واوری. نو د ملاقات حال معلومیدل هم د احتمال رفع کولو دپاره پوره نهٔ شوه. بیا د دے شرط لګولو نه حاصل څهٔ شو بلکه نور ضرر پیدا شو چه په زرګونو صحیح متصل روایتونه چه د عن عن سره مروی دی. د یو بے بنیاده احتمال نه بیکاره شول. مخالفت ددے جواب دا ورکوی چه مطلق احتمال د رفع اتصال دپاره کافی نهٔ دی. هر کله چه ملاقات ثابت شو نو طرف د اتصال لره ترجیح ده. او جانب ارسال، مرجوح نو اعتبار به د اتصال وی. ولے چه دغه ظاهر دے. او ظن غالب هم ددے دے. ددے دپاره چه راوی مدلس نهٔ دے. په خلاف د هغه صورت چرته چه ملاقات یوځل هم ثابت نهٔ دے هلته جانب اتصال او ارسال دواړه مساوی دی. ددے دپاره شک او تردد شو. او هغه مستلزم دے د روایت موقوف کولو لره

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَرَوَى هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَكَفَ يُدْنِي إِلَيَّ رَأْسَهُ فَأُرَجِّلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ فَرَوَاهَا بِعَيْنِهَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَرَوَى الزُّهْرِيُّ وَصَالِحُ بْنُ أَبِي حَسَّانَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَهُوَ صَائِمٌ فَقَالَ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ فِي هَذَا الْخَبَرِ فِي الْقُبْلَةِ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عُرْوَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ

رسول الله صلی الله علیه وسلم نه[1].
او دویم روایت هشام کړے دے د خپل پلار عروه نه هغهٔ د عائشےؓ نه. چه رسول الله ﷺ به هر کله په اعتکاف کښ وو. نو خپل سر به ئے خما طرف ته راښکته کړو. ما به د هغوی سر ګومنز کړو. حالانکه زهٔ به حائضه وم. د دے روایت لره بعینه امام مالکؒ د زهری نه روایت کړے دے هغه د عروه نه او عروه د عمره نه او هغهٔ د عائشےؓ نه او هغوی د رسول الله ﷺ نه[2].
دریم روایت هغه دے چه زهری او صالح بن ابی حسان د ابو سلمه نه نقل کړے او هغه د عائشےؓ نه چه رسول الله ﷺ ښکلول کړی وو. او هغه به روژه دار وو. یحیٰی بن ابی کثیر دد ے ښکلولو حدیث لره داسے روایت کړے دے. خبر راکړے دے ماته ابو سلمه بن عبد الرحمٰن هغه خبر ورکړے دے عمر بن عبدالله بن عبدالعزیز او هغهٔ له خبر ورکړے دے عروه او عروه له خبر ورکړے دے

---

[1] نو د هشام او عروه په مینځ کښ ئے د عثمان بن عروه واسطه نقل کړه. او په وړمبو اسنادو کښ د عثمان واسطه نشته دے صرف هشام عن عروه دے. حالانکه وړمبو اسنادو نقل کونکو والاد حدیثو لوئے لوئے امامان دی. دد ے تولو نه غلطی نهٔ شی کیدے. نو ضرور ده دا خبره چه دے روایت لره هشام پخپله د عروه نه نهٔ دے اوریدلے. بلکه د عثمان په واسطه ئے اوریدلے. لیکن کله کله هشام دے لره مرسلا د عروه نه نقل کړے دے او کله سندا د عثمان نه. اګر چه په دے مقام کښ دا احتمال هم دے. چه هشام دد ے نه مخکښ د عثمان په واسطه اوریدلے وی بیا په خپله د عروه سره میلاؤ شوے وی او بے د واسطے ئے د هغهٔ نه اوریدلے وی.
[2] نو د امام مالک رحمه الله په روایت کښ د عروه او عائشے رضی الله عنها په مینځ کښ یوه واسطه ده، د عمره، چه هغه په وړمبو اسنادو کښ نشته دے. امام نووی رحمه الله وئیلی دی چه دد ے حدیث نه څو خبرے معلومیږی. یو دا چه د حائضے ښځے نور اندامونه پاک دی او په دے بانے د علماؤ اتفاق دے. او د ابو یوسف نه چه نقل کړے شوے دی چه د حائضے ښځے لاس پلیت دی. هغه روایت صحیح نهٔ دے. دویمه دا چه معتکف په خپلو ویښتو کښ ګومنز کولے شی. دریم دا چه خپلے ښځے طرفته کتلے شی او هغه بغیر د شهوت نه ښکلولے شی.

عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ

حضرت عائشےؓ چه رسول الله ﷺ به هغه ښکلوله او هغه به روژه دار وو.[1]

وَرَوَى ابْنُ عُيَيْنَةَ وَغَيْرُهُ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَطْعَمَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُحُومَ الْخَيْلِ وَنَهَانَا عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ فَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذَا النَّحْوُ فِي الرِّوَايَاتِ كَثِيرٌ يَكْثُرُ تَعْدَادُهُ وَفِيمَا ذَكَرْنَا مِنْهَا كِفَايَةٌ لِذَوِي الْفَهْمِ

څلورم روایت هغه دے چه سفیان بن عیینه وغیره د عَمرو بن دینار نه نقل کړے دے او هغوی د جابرؓ نه چه رسول الله ﷺ په موږ خوره ولے ده د اسونو غوښه. او منع کړی نے وو موږ د ساتلے شوو خرو د غوښونه دے حدیث لره روایت کړے دے حماد بن زید د عمرو نه هغوی د محمد بن علی (یعنی امام باقر) نه هغوی د جابر نه (نو حماد بن زید د عمرو بن دینار او جابر په مینځ کښې یوه واسطه بله نقل کړے ده د محمد بن علی چه هغه په وړومبو سندونو کښې نشته) او ددے قسم حدیثونه ډیر دی. چه د هغے شمار ډیر زیات دے. او څومره چه موږ بیان کړل هغه د پوهے د خاوندانو پوره دی.

فَإِذَا كَانَتِ الْعِلَّةُ عِنْدَ مَنْ وَصَفْنَا قَوْلَهُ مِنْ قَبْلُ فِي فَسَادِ الْحَدِيثِ وَتَوْهِينِهِ إِذَا لَمْ يُعْلَمْ أَنَّ الرَّاوِيَ قَدْ سَمِعَ مِمَّنْ رَوَى عَنْهُ شَيْئًا إِمْكَانَ الْإِرْسَالِ فِيهِ لَزِمَهُ تَرْكُ الِاحْتِجَاجِ فِي قِيَادِ قَوْلِهِ بِرِوَايَةِ مَنْ يُعْلَمُ

بیا هر کله چه علت د هغه سړی په نزد چه د هغه قول موږ وړاندے بیان کړو د حدیثو د خرابئ او توهین دا شو چه د یو راوی سماع دبل راوی نه معلومه نه شوه. نو ارسال ممکن دے. نو ددے قول په موجب ده لره ترک کول د حجت لازم دی. د هغه روایتونو سره چه د هغے د راوی سماع د دویم نه معلومه شوے وی. (بیا دغه سړی

---

[1] او په یوه نسخه کښې صالح بن کیسان دے او هغه غلط دے. صحیح صالح بن ابی حسان دے. نسائی دے لره روایت کړے د ابن وهب نه هغه د ابن ابی ذئب نه هغه د صالح بن ابی حسان نه هغه د ابو سلمه نه ترمذی د بخاری نه نقل کړے دے چه صالح بن حسان ثقه دے. او صالح بن حسان بصری ابو الحارث دویم سړے دے. هغه هم د ابوسلمیٰ نه روایت کوی هغه ضعیف دے. نووی رحمه الله. نو یحیی بن کثیر د ابوسلمیٰ او عائشے رضی الله عنها په مینځ کښې دوه واسطے نورے د عمربن عبد العزیز او عروه نقل کړی دی. دا دواړه واسطے په وړمبو اسنادو کښې نشته دے. په اسناد کښې یوه عجیبه خبره داده چه دا څلور راویان یعنی یحیی او ابو سلمه او عمر بن عبد العزیز او عروه د تابعینو نه دی. او د یو بل نه روایت کوی دوېم لفظ داده چه ابو سلمه یعنی عبد الله بن عبد الرحمٰن بن عوف د لویو تابعینو نه دے او عمر بن عبد العزیز دده په نسبت په عمر او طبقه کښې کم دے. بیا هغه ددوی نه روایت کوی.

أَنَّهُ قَدْ سَمِعَ مِمَّنْ رَوَى عَنْهُ إِلاَّ فِي نَفْسِ الْخَبَرِ الَّذِي فِيهِ ذِكْرُ السَّمَاعِ لِمَا بَيَّنَّا مِنْ قَبْلُ عَنِ الأَئِمَّةِ الَّذِينَ نَقَلُوا الأَخْبَارَ أَنَّهُمْ كَانَتْ لَهُمْ تَارَاتٌ يُرْسِلُونَ فِيهَا الْحَدِيثَ إِرْسَالاً وَلاَ يَذْكُرُونَ مَنْ سَمِعُوهُ مِنْهُ وَتَارَاتٌ يَنْشَطُونَ فِيهَا فَيُسْنِدُونَ الْخَبَرَ عَلَى هَيْئَةِ مَا سَمِعُوا فَيُخْبِرُونَ بِالنُّزُولِ فِيهِ إِنْ نَزَلُوا وَبِالصُّعُودِ إِنْ صَعِدُوا كَمَا شَرَحْنَا ذَلِكَ عَنْهُمْ

په نږ به صرف دغه روایت حجت وی چه په هغې کښې د سماع تصریح ده. ولې چه وړاندې مونږ بیان کړی دی چه د حدیثو د روایت کونکو امامانو حال مختلف وی کله خو هغوی ارسال کوی او د چا نه چه هغوی اوریدلی وی د هغوی نوم نۀ اخلی. او کله خوشحالیږی. او د حدیثو پوره اسناد په څۀ شان له چه ئې دوی اوریدلے وی بیانوی. بیا کۀ چرے هغوی لره غورخول وی نو غورخول ئې بنائی. او کچرے هغوی لره اوچتول وی نو اوچتول (یعنی خیژول) ئې بنائی. څنګه چه مونږ وړاندې صفا بیان کړی دی[1].

وَمَا عَلِمْنَا أَحَدًا مِنْ أَئِمَّةِ السَّلَفِ مِمَّنْ يَسْتَعْمِلُ الأَخْبَارَ وَيَتَفَقَّدُ صِحَّةَ الأَسَانِيدِ وَسَقَمَهَا مِثْلَ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ وَابْنِ عَوْنٍ وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَشُعْبَةَ بْنِ الْحَجَّاجِ وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانِ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنْ أَهْلِ الْحَدِيثِ فَتَّشُوا عَنْ مَوْضِعِ السَّمَاعِ فِي الأَسَانِيدِ كَمَا ادَّعَاهُ الَّذِي وَصَفْنَا قَوْلَهُ مِنْ قَبْلُ وَإِنَّمَا كَانَ تَفَقُّدُ مَنْ تَفَقَّدَ مِنْهُمْ سَمَاعَ رُوَاةِ الْحَدِيثِ مِمَّنْ رَوَى عَنْهُمْ إِذَا كَانَ الرَّاوِي مِمَّنْ عُرِفَ بِالتَّدْلِيسِ فِي الْحَدِيثِ وَشُهِرَ بِهِ فَحِينَئِذٍ يَبْحَثُونَ عَنْ سَمَاعِهِ فِي

او مونږ د سلف د امامانو نه به چه کوم حدیث استعمالول او د اسنادو د صحت او سقم تپوس به مو ترے نه کولو . لکه ایوب سختیانی او ابن عون او مالک بن انس او شعبه بن حجاج او یحیٰی بن سعید قطان او عبد الرّحمٰن بن مهدی او کوم چه ددوی نه پس دی چا نۀ دی اوریدلی چه هغه په اسنادو کښې د سماع تحقیق کوی. لکه چه دا سړے دعوه کوی چه د هغه قول پورته مونږ بیان کړے دے البته چا چه د دوی نه د راویانو د سماع تحقیق کړے دے . نو هغه د هغه راویانو چه هغه مشهور دی په تدلیس کښې دغه وخت بیشکه د داسې راویانو د سماع نه بحث کیږی. او د دے معلومات کوی چه ددوی نه د تدلیس دا مرض لرے شی.

---

[1] د غورخولو او خیژولو نه دا مقصود دے. چه سند عالی شو او واسطے کمے شوے نو اوچت شو. او کوم سند چه عالی نۀ وی او واسطے زیاتے شی نو اوغورخیدو.

رِوَايَتِهِ وَيَتَفَقَّدُونَ ذٰلِكَ مِنْهُ كَيْ تَنْزَاحَ عَنْهُمْ عِلَّةُ التَّدْلِيسِ فَمَنِ ابْتَغَى ذٰلِكَ مِنْ غَيْرِ مُدَلِّسٍ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي زَعَمَ مَنْ حَكَيْنَا قَوْلَهُ فَمَا سَمِعْنَا ذٰلِكَ عَنْ أَحَدٍ مِمَّنْ سَمَّيْنَا وَلَمْ نُسَمِّ مِنَ الْأَئِمَّةِ فَمِنْ ذٰلِكَ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ يَزِيدَ الْأَنْصَارِيَّ وَقَدْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ رَوَى عَنْ حُذَيْفَةَ وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ وَعَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حَدِيثًا يُسْنِدُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ فِي رِوَايَتِهِ عَنْهُمَا ذِكْرُ السَّمَاعِ مِنْهُمَا وَلَا حَفِظْنَا فِي شَيْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ يَزِيدَ شَافَهَ حُذَيْفَةَ وَأَبَا مَسْعُودٍ بِحَدِيثٍ قَطُّ وَلَا وَجَدْنَا ذِكْرَ رُؤْيَتِهِ إِيَّاهُمَا فِي رِوَايَةٍ بِعَيْنِهَا وَلَمْ نَسْمَعْ عَنْ أَحَدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِمَّنْ مَضَى وَلَا مِمَّنْ أَدْرَكْنَا أَنَّهُ طَعَنَ فِي هٰذَيْنِ الْخَبَرَيْنِ اللَّذَيْنِ رَوَاهُمَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ عَنْ حُذَيْفَةَ وَأَبِي مَسْعُودٍ بِضَعْفٍ فِيهِمَا بَلْ هُمَا وَمَا أَشْبَهَهُمَا عِنْدَ مَنْ لَاقَيْنَا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالْحَدِيثِ مِنْ صِحَاحِ الْأَسَانِيدِ وَقَوِيِّهَا يَرَوْنَ اسْتِعْمَالَ مَا نُقِلَ بِهَا وَالِاحْتِجَاجَ بِمَا أَتَتْ مِنْ سُنَنٍ وَآثَارٍ وَهِيَ فِي زَعْمِ مَنْ حَكَيْنَا قَوْلَهُ مِنْ قَبْلُ

لیکن د سماع تحقیق په هغه راوی کښې چه مدلس نه وی په څهٔ شان چه د سرے بیان کړے دے. نو د مونږ د یو امام نه نهٔ د اوریدلے. د هغه امامانو نه د چا ذکر چه مونږ اوکړو. او د چا ذکر چه مونږ نه دے کړے.

ددے قسم روایت نه د عبد الله بن یزید انصاریؓ روایت دے (چه پخپله صحابی دے) هغوی لیدلے دے رسول الله ﷺ لره. او روایت کړے دے حذیفه بن یمان او ابومسعود (عقبه بن عمرو انصاری بدریؓ) د هر یو نه یو حدیث لره. چه هغے لره هغوی مسند کړے دے د رسول الله ﷺ پورے. او نشته دے تصریح په دے روایتونو کښې ددے خبرے چه عبد الله بن یزید اوریدلی دی ددے دواړو نه (یعنی حذیفهؓ او ابو مسعودؓ نه ئے اوریدلی دی) او نهٔ په څهٔ روایت کښې مونږ دا خبره اوموندہ. چه عبد الله د حذیفه او ابومسعود سره روبرو ملاؤ شوے او دهغهٔ نه ئے څهٔ حدیث اوریدلی دی. او نهٔ چرته مونږ دا اوموندہ چه عبد الله ددے دواړو لره لیدلی دی په څهٔ خالص روایت کښې (مګر چونکه عبد الله پخپله صحابی وو) او د هغه عمر دومره وو چه ملاقات د هغهٔ د حذیفهؓ او ابو مسعودؓ سره ممکن دے. ددے دپاره روای د عَنْ سره محمول دے په اتصال باندے. نو صرف امکان ملاقات کافی شولو. لکه څنګه چه د امام مسلمؒ مذهب دے. و د چا علم والانه نهٔ دی اوریدلی نهٔ د ورمبی خلقو نه نهٔ د هغهٔ چا نه چه د هغوی سره مونږ ملاؤ شوی یو چه هغوی طعن کړے وی په دے دواړو حدیثو کښې چه عبد الله روایت کړی د حذیفهؓ او ابی مسعودؓ نه چه دا ضعیف دی. بلکه دا حدیثونه او کوم چه ددے مشابه دی د صحیح حدیثونه دی. او قوی دی د هغه امامانو په نز چه د هغو سره مونږ ملاؤ شوی یو. او هغه ددے

وَاهِيَةٌ مُهْمَلَةٌ حَتَّى يُصِيبَ سَمَاعَ الرَّاوِي عَمَّنْ رَوَى

استعمال جائز ګڼړی او دده نه حجت اخلی. حالانکه دا حدیثو نه ددغه سری په نز چه د هغه قول وړاندے مونږ بیان کړو (چه هغه ثبوت ملاقات شرط کوی) بے فائدے دی د کومے پورے چه اوریدل د عبد الله د حذیفه او ابومسعود نه متحقق نه وی[1]

وَلَوْ ذَهَبْنَا نُعَدِّدُ الْأَخْبَارَ الصِّحَاحَ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِمَّنْ يَهِنُ بِزَعْمِ هَذَا الْقَائِلِ وَنُحْصِيهَا لَعَجَزْنَا عَنْ تَقَصِّي ذِكْرِهَا وَإِحْصَائِهَا كُلِّهَا وَلَكِنَّا أَحْبَبْنَا أَنْ نَنْصِبَ مِنْهَا عَدَدًا يَكُونُ سِمَةً لِمَا سَكَتْنَا عَنْهُ مِنْهَا

او که چرې مونږ تول داسے حدیثونو لره چه دا هل علمو په نز صحیح دی. او دده سرے په نز ضعیف دی. بیان کړو. نو دده په ذکر کولو کولو به مونږ ستړی شو. (دومره زیات دی) لیکن مونږ غواړو چه لږ دده نه بیان کړو. چه د باقی دپاره هغه نمونه وی.

وَهَذَا أَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ وَأَبُو رَافِعٍ الصَّائِغُ وَهُمَا مَنْ أَدْرَكَ الْجَاهِلِيَّةَ وَصَحِبَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْبَدْرِيِّينَ هَلُمَّ جَرًّا وَنَقَلَا عَنْهُمُ الْأَخْبَارَ حَتَّى نَزَلَا إِلَى مِثْلِ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنِ عُمَرَ وَذَوِيهِمَا قَدْ أَسْنَدَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا وَلَمْ نَسْمَعْ فِي رِوَايَةٍ بِعَيْنِهَا أَنَّهُمَا عَايَنَا أُبَيًّا أَوْ سَمِعَا مِنْهُ شَيْئًا

ابوعثمان نهدی (عبد الرحمٰن بن مل چه د یو سل دیر شو کالاو شو نو مړشو) او ابورافع صائغ (نقیع مدنی) دے دواړو د جاهلیت زمانه موندلے ده. (لیکن د رسول الله ﷺ صحبت ورته ملاؤ شوے نه دے داسے خلقو ته مخضرم وائی) او د رسول الله ﷺ لویو لویو بدری صحابو سره ملاؤ شوی او روایتونه ئے تر نه کړی دی. بیا د هغوی نه لاندے د نورو صحابو سره تردے پورے چه ابوهریره او ابن عمر او دودوی په شان صحابه کرامو سره. په دوی کښ هر یو حدیث د ابی بن کعب نه روایت کړے دے. او هغوی د رسول الله نه حالانکه د څهٔ روایت نه دا خبره ثابته شوے نه ده چه دے دواړو ابی بن کعب لره لیدلے دے یائے د هغهٔ نه څهٔ اوریدلی دی.

---

[1] د ابو مسعود رضی الله عنه نه هغوی نَفَقَةُ الرَّجُلُ عَلٰی اَهْلِه حدیث روایت کړے دے. چه هغه بخاری رحمه الله او مسلم رحمه الله دواړو په خپلو کتابونو کښ نقل کړے دے. او د حذیفه رضی الله عنه نه ئے هغه حدیث روایت کړے دے اَخْبَرَنِیْ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم بِمَا هُوَ کَائِن د اخره پورے. چه دے لره مسلم رحمه الله نقل کړے دے. نو عبد الله بن یزید صحابی دی هغوی روایت کړے دے د حذیفه رضی الله عنه او ابومسعود رضی الله نه چه صحابه کرام دی

وَأَسْنَدَ أَبُو عَمْرٍو الشَّيْبَانِيُّ وَهُوَ مِمَّنْ أَدْرَكَ الْجَاهِلِيَّةَ وَكَانَ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ ﷺ رَجُلًا وَأَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَخْبَرَةَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ خَبَرَيْنِ وَأَسْنَدَ عُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حَدِيثًا وَعُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ وُلِدَ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ ﷺ وَأَسْنَدَ قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ وَقَدْ أَدْرَكَ زَمَنَ النَّبِيِّ ﷺ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ ثَلَاثَةَ أَخْبَارٍ وَأَسْنَدَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى وَقَدْ حَفِظَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَصَحِبَ عَلِيًّا عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حَدِيثًا وَأَسْنَدَ رِبْعِيُّ بْنُ حِرَاشٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حَدِيثَيْنِ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حَدِيثًا وَقَدْ سَمِعَ رِبْعِيٌّ مِنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ وَرَوَى عَنْهُ وَأَسْنَدَ نَافِعُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حَدِيثًا وَأَسْنَدَ النُّعْمَانُ بْنُ أَبِي عَيَّاشٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ثَلَاثَةَ أَحَادِيثَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ وَأَسْنَدَ عَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ اللَّيْثِيُّ عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حَدِيثًا وَأَسْنَدَ سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حَدِيثًا

او ابو عمر شيبانى (سعد بن اياس) چه هغه د جاهليت زمانه موندلے ده. او د رسول الله ﷺ په زمانه كښ خوان سړے وو. او ابو معمر عبد الله بن سخبره هر يو ددوى نه دوه دوه احاديث د ابو مسعودؓ انصارى نه روايت كړى دى. او هغوى د رسول الله ﷺ نه او عبيد ابن عمير د ام المؤمنين ام سلمهؓ نه يو حديث روايت كړے دے. او هغوى د رسول الله ﷺ نه. او عبيد پيدا شوے د رسول الله ﷺ په زمانه كښ او قيس بن ابى حازم چه د رسو الله ﷺ زمانه ئے موندلے ده د ابو مسعود انصارى نه درے احاديث روايت كوى او عبدالرّحمن بن ابى ليلى چه هغه د حضرت عمر نه ياد كړى،اوريدلى، دى او د حضرت علىؓ په صحبت كښ پاتے‌شوے يو حديث د انس بن مالكؓ نه روايت كوى او ربعى بن حراش د عمران بن حصين نه دوه حديثونه روايت كوى او نافع بن جبير بن مطعم د ابو شريح خزاعى نه يو حديث روايت كړے دى او هغوى د رسول الله ﷺ نه او نعمان بن ابى عياش د ابوسعيد خدرىؓ نه درے حديثونه روايت كړى دى هغوى د رسول الله ﷺ نه او عطاء بن يزيد ليثى د تميم دارى نه يو حديث روايت كړے دے هغوى د رسول الله ﷺ نه او سليمن بن يسار د رافع بن خديج نه يو حديث روايت كړے دے او هغوى د رسول الله ﷺ نه او عبيدؓ بن عبد

وَأَسْنَدَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِمْيَرِيُّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَحَادِيثَ

فَكُلُّ هَؤُلَاءِ التَّابِعِينَ الَّذِينَ نَصَبْنَا رِوَايَتَهُمْ عَنِ الصَّحَابَةِ الَّذِينَ سَمَّيْنَاهُمْ لَمْ يُحْفَظْ عَنْهُمْ سَمَاعٌ عَلِمْنَاهُ مِنْهُمْ فِي رِوَايَةٍ بِعَيْنِهَا وَلَا أَنَّهُمْ لَقُوهُمْ فِي نَفْسِ خَبَرٍ بِعَيْنِهِ وَهِيَ أَسَانِيدُ عِنْدَ ذَوِي الْمَعْرِفَةِ بِالْأَخْبَارِ وَالرِّوَايَاتِ مِنْ صِحَاحِ الْأَسَانِيدِ لَا نَعْلَمُهُمْ وَهَّنُوا مِنْهَا شَيْئًا قَطُّ وَلَا الْتَمَسُوا فِيهَا سَمَاعَ بَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ إِذِ السَّمَاعُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ مُمْكِنٌ مِنْ صَاحِبِهِ غَيْرُ مُسْتَنْكَرٍ لِكَوْنِهِمْ جَمِيعًا كَانُوا فِي الْعَصْرِ الَّذِي اتَّفَقُوا فِيهِ وَكَانَ هَذَا الْقَوْلُ الَّذِي أَحْدَثَهُ الْقَائِلُ الَّذِي حَكَيْنَاهُ فِي تَوْهِينِ الْحَدِيثِ بِالْعِلَّةِ الَّتِي وَصَفَ أَقَلَّ مِنْ أَنْ يُعَرَّجَ عَلَيْهِ وَيُثَارَ ذِكْرُهُ إِذْ كَانَ قَوْلًا مُحْدَثًا وَكَلَامًا خَلْفًا لَمْ يَقُلْهُ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ سَلَفَ وَيَسْتَنْكِرُهُ مَنْ بَعْدَهُمْ خَلَفَ فَلَا

الرّحمٰن حمیری دابوهریرهؓ نه څۀ حدیثونه روایت کړی دی او هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی[1].

بیا دا ټول تابعین چه هغوی د صحابه کرامو ؓ نه روایاتن کړی دی چه د هغوی ذکر مونږ پورته بیان کړو ددوی سماع د هغه صحابو ؓ نه په څۀ معین روایت کښې معلومه شوے نۀ ده . او نۀ ملاقات ددوی ددغه صحابو ؓ سره د روایت نه ظاهر شوے دے. باوجود ددے ددۀ دا ټول روایتونه حدیث او د روایت د پیژندونکو خلقو په نز (یعنی دحدیثو د امامانو په نز) صحیح السند دی. او مونږ نۀ پوهیږو چه چا ددے نه څۀ روایت لره ضعیف کړے دے. یا په دے کښې د سماع تلاش وی. ددے دپاره چه سماع ممکنه ده ددے نه انکار نۀ شی کیدے ولے چه هغه دواړه په یوه زمانه کښې موجود وو او دا قول چه دے لره هغه سړی راویستلے دے. چه د هغۀ بیان وړاندے مونږه اوکړو د حدیث د ضعیف کیدو دپاره ددے علت په وجه سره کوم چه ذکر شو ددے لائق هم نۀ دے چه دے طرفته التفات اوکړی یا ددے ذکر اوکړی ددے دپاره چه دا قول نوے وتلے شوے دے او غلط او فاسد دے څوک خاوند د علم د سلفو نه ددے قائل شوے نۀ دے او کوم خلق چه د سلفو نه پس تیز شوی دی. هغوی ددے نه انکار کړے نو په دے سره

---

[1] دے ټولو حدیثو لره نووی رحمه الله په خپله شرح کښې نقل کړی دی. مګر اکثر حدیثونه ددے نه مسلم رحمه الله وړاندے نقل کړی دی. ددے دپاره د اوږدیدو د یرے نه مونږ دے لره دلته او نۀ لیکل او غرض ددے ټولو راویانو د ذکر کولو نه دادے چه دا ټول راویان په اعتبار د سن او عمر چه د کومو خلقو نه روایت کړے دے د هغوی نه اوریدلے شی بیا د هغوی اوریدل او ملاقات کول ثابت شوی نۀ دی. حالانکه محدثینو دغه روایتونو لره قبول کړی دی. او دے ته نے صحیح ویلی دی. نو معلومه شوه چه صرف امکان سماع کافی دے. ثبوت سماع ضروری نۀ ده.

حَاجَةَ بِنَا فِي رَدِّهِ بِأَكْثَرَ مِمَّا شَرَحْنَا إِذْ كَانَ قَدْرُ الْمَقَالَةِ وَقَائِلِهَا الْقَدْرَ الَّذِي وَصَفْنَاهُ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى دَفْعِ مَا خَالَفَ مَذْهَبَ الْعُلَمَاءِ وَعَلَيْهِ التُّكْلَانُ وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَحْدَهُ وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ آلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ

ددهٔ د رو کولو حاجت نشته. هر کله چه دا دے قول او دا دے د ویونکی دا وقعت دے. لکه چه بیان شو. الله مدد ورکونکے دے. د هغه خبرے د رد کولو دپاره چه د عالمانو د مذهب نه خلاف ده. او په دے باندے اعتماد دے. ختم شوه مقدمه د مسلم شریف. اوس شروع کیږی بیان د ایمان چه اصل دے د ټولو اعمالو او چه په دے باندے موقوف دے خلاصے د آخرت د عذاب نه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

كِتَابُ الْإِيمَانِ

دایمان بیان[1]

قَالَ أَبُو الْحُسَيْنِ مُسْلِمُ بْنُ الْحَجَّاجِ الْقُشَيْرِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ بِعَوْنِ اللّٰهِ نَبْتَدِئُ | امام ابو الحسین مُسلم بن الحجاج دد ے کتاب مؤلف فرمائی. مونږ شروع کوو کتاب لره د الله تعالی په مدد سره او هغه کافی گڼړم او

[1] خطابی ویلی دی د اکثرو علماؤ مذهب داد ے چه ایمان او اسلام یو د ے. او زهری ویلی دی چه اسلام په ژبه سره اقرار کول دی او ایمان اعمال صالحه ته وائی. او صحیح داده چه اسلام عام د ے او ایمان خاص. نو هر مؤمن مسلم یعنی مسلمان د ے لیکن هر مسلم لره مؤمن کیدل ضروری نه دی. د ایمان اصل تصدیق د ے یعنی په زړهٔ سره یقین کول او د اسلام اصل تابعداری ده یعنی اطاعت کول نو چه کوم سړے په ظاهر کښ تابعدار وی لیکن په زړهٔ کښ د هغهٔ یقین نهٔ وی هغه سړے مسلمان د ے مؤمن نه د ے بیا ایمان د شریعت په اصطلاح کښ داد ے چه په زړهٔ سره یقین اوکړی او په ژبه سره اقرار اوکړی او اعمالو لره په لاس او خپو سره ادا کړی په دے سره ایمان کمیږی او زیاتیږی او دا مذهب د ے د محدثینو. او دد ے دلیل ډیر ایتونه او احادیث دی او د مرجیه قول داد ے چه ایمان صرف د قول نوم د ے. او اعمال صالحه په ایمان کښ داخل نهٔ دی. دد ے وجے نه ایمان نهٔ زیاتیږی او نهٔ کیږی او حنفیه هم د مرجیه سره په دے باب کښ موافق شوی دی. مگر فرق داد ے چه حنفیه اعمال صالحه لره د عذاب نه د بچ کیدو دپاره ضروری گڼړی او مرجیه وائی چه د اعمالو ضرورت نشته او د ایمان سره څهٔ گناه ضرر نهٔ کوی او کوم خلق چه د احادیث صحیحه نه او ایات قرانیه نه خلاف دد ے خبرے قائل شوی دی چه په ایمان کښ کمے او زیاتے نهٔ کیږی دد ے دپاره چه ایمان صرف د زړهٔ تصدیق او یقین ته ویلے شی هغوی غور نهٔ د ے کړے په دے باند ے چه تصدیق او یقین دواړه د صفات نفسانی نه دی او همیشه صفات نفسانی لکه رنځ او غصه او محبت او عداوت کښ زیاتے او کمے کیږی په دے شان دلائلو کښ په غور کولو سره په یقین کښ کمے او زیاتے راځی بعضو ویلی دی چه د کمی او زیاتی نهٔ راتلو نه دا غرض د ے چه په کمیت کښ کمے او زیاتے نهٔ راځی لیکن په کیفیت کښ خو کمے او زیاتے راتلل ضروری ده ولے چه د مقلد ایمان د محقق د ایمان برابر نهٔ شی کید ے. دغه شان ایمان ادنی د عام سړی او ایمان د انبیاؤ او اولیاؤ څنگه برابر کید ے شی. اوس علماؤ په دے خبره باند ے اتفاق کړے د ے چه مؤمن په چا باند ے چه حُکم شوے د ے د اهل قبله او کوم چه همیشه په جهنم کښ نهٔ شی پاتے کید ے هغه سړے د ے چه هغه د زړهٔ نه ددین اسلام په حق کیدو باند ے اقرار او یقین اوکړی او په دے کښ شک نهٔ کوی. او په ژبه سره اقرار اوکړی د الله جل جلاله د توحید او د آنحضرت ﷺ په رسالت باند ے اوس کهٔ چرے د یوے خبرے اقرار اوکړی یعنی یواځی د توحید یا یواځی د رسالت نو هغه به مؤمن نهٔ وی او بعضو ویلی دی چه کهٔ چرے یواځی د توحید اقرار اوکړی نو هغه به مسلمان وی او هغهٔ ته به وینا کولے شی د رسالت د اقرار کولو دپاره بیا کهٔ چرے هغهٔ انکار اوکړو نو مُرتَد شو واجب القتل د ے په دے شان چه کوم سړے د اهل قبله ؤ نه وی هغه د څهٔ گناه په وجه سره نهٔ کافر کیږی البته کهٔ چرے د اسلام د یو ضروری فرضی رکن نه انکار اوکړی او عمل نهٔ کوی چه د هغه ثبوت په تواتر او اتفاق د ے لکه د مانځهٔ یا د روژے د فرضیت نه انکار اوکړی یا د شرابو د حرام والی نه یا د زنا د حرام والی نه یا د ناحق قتل د حرام والی نه انکار اوکړی نو هغهٔ ته به کافر ویلے شی «نووی د زیادت نه په لنډوالی سره»

وَإِيَّاهُ نَسْتَكْفِي وَمَا تَوْفِيقُنَا إِلاَّ بِاللهِ جَلَّ جَلاَلُهُ

عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ قَالَ كَانَ أَوَّلُ مَنْ قَالَ فِي الْقَدَرِ بِالْبَصْرَةِ مَعْبَدٌ الْجُهَنِيُّ فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَحُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِمْيَرِيُّ حَاجَّيْنِ أَوْ مُعْتَمِرَيْنِ فَقُلْنَا لَوْ لَقِينَا أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْنَاهُ عَمَّا يَقُولُ هَؤُلاَءِ فِي الْقَدَرِ فَوُفِّقَ لَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ دَاخِلاً الْمَسْجِدَ فَاكْتَنَفْتُهُ أَنَا وَصَاحِبِي أَحَدُنَا عَنْ يَمِينِهِ وَالآخَرُ عَنْ شِمَالِهِ فَظَنَنْتُ أَنَّ صَاحِبِي سَيَكِلُ الْكَلاَمَ إِلَيَّ فَقُلْتُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّهُ قَدْ ظَهَرَ قِبَلَنَا نَاسٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ وَيَتَقَفَّرُونَ الْعِلْمَ وَذَكَرَ مِنْ شَأْنِهِمْ وَأَنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنْ لاَ قَدَرَ

نشته دے مونږ لره توفیق، ورکونکے مګر الله تعالی چه لوئے دے جلال د هغهٔ[1].

د یحیی بن یعمر نه روایت دے د ټولو نه وړاندے چه چا په تقدیر کښې بحث کړے دے په بصره کښې (چه دا یو ښهر دے په د هانه خلیج فارس باندے آباد کړے وو عتبه بن غزوان د حضرت عمرؓ د خلافت په دور کښې سمعاني وائي بصره قبه ده د خاوندانو د اسلام او خزانه ده د عربو او په حقیقت کښې بصره یو ښار دے چه په هغے سره تجارت د اهل هند او د فارس سره په ښهٔ طریقه کیدے شي او شاید په دے مصلحت سره ددے ښار بنیاد ایخودے شوے وي) هغه معبد جهني وو نو زهٔ او حمید بن عبد الرّحمٰن حمیری دواړه یو ځائے لاړو د حج یا د عُمرے دپاره او مونږه دا اووے چه کاش ' مونږ ته یو صحابي د رسول اللهﷺ میلاؤ شوے چه هغهٔ ته مونږ ذکر اوکړو ددے خبرے کومه چه دا خلق وائي په تقدیر کښې نو اتفاقاً میلاؤ شو مونږ د عبد الله بن عمرؓ بن خطاب سره په لاره کښې چه هغه جماعت ته تللو هغه مونږ په مینځ کښې کړو یعنې زهٔ او خما ملګرے تر نه ښي او ګس طرفته شو زهٔ پوهه وم چه خما ملګرے (حمید) به ماته د خبرے کولو دپاره وائي (ددے دپاره چه خما خبرے وے) نو ما اووے اے ابا عبد الرّحمن (دا کنیت دے د ابن

[1] اوس ددے ځائے نه کتاب مسلم شروع کیږي مګر مونږ به ترجمه کښې د لنډوالي په وجه د حدیثو سندونه نه دي لیکلي ولے چه د سندونو نه هغه خلق فائده اخستے شي چه هغه اهل علم او اهل معرفت دي او عام سړي لره صرف دا کافي ده چه د حدیثو علماؤ چه کوم حدیث ته صحیح وائي په هغے باندے عمل اوکړي او امام مسلم په اسنادو کښې چرته حدّثنا او اَخبرنا ویلي دي او چرته ئے حدّثني او اخبرني ویلي دي ددے نه د امام مسلمؒ کمال او د حدیثو په روایت کښې احتیاط معلومیږي حدثني او اخبرني هغه ځائے کښې ویلے شي چه هلته امام مسلم یواځے د شیخ نه حدیث اوریدلے یا یواځے لوستلے اوریدلے وي او حدثنا او اخبرنا هغه ځائے ویلے شي چه هلته د نورو حلقو سره حدیث اوریدلي یا لوستي اوریدلي وي

وَأَنَّ الأَمْرَ أُنُفٌ قَالَ فَإِذَا لَقِيتَ أُولَئِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنِّي بَرِيءٌ مِنْهُمْ وَأَنَّهُمْ بُرَآءُ مِنِّي وَالَّذِي يَحْلِفُ بِهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لَوْ أَنَّ لأَحَدِهِمْ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا فَأَنْفَقَهُ مَا قَبِلَ اللهُ مِنْهُ حَتَّى يُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ ثُمَّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ لاَ يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ وَلاَ يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنِ الإِسْلاَمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الإِسْلاَمُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُقِيمَ الصَّلاَةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلاً قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ

عمرؓ) زمونږ په ملک کښې داسے خلق پیدا شوی دی چه هغه قرآن لولی او د علم شوق لری. یا د هغے باریکے راأوباسی او بیان مو کړو حال د هغوی. او دا مو اووے چه هغه وائی چه تقدیر څۀ شے نۀ دے او ټول کارونه ناساپه شوی دی. عبد الله بن عمرؓ اووے ته خه کله چه د داسے خلقو سره میلاؤ شے نو ورته وایه چه زۀ د هغوی نه ویزاره یم او هغوی ځمانه او ځما د په خدائے الله جل جلاله قسم وی چه ددغه خلقو (د چا ذکر چه تا اوکړو چه د تقدیر قائل نۀ دی) کۀ د چا سره د اُحد غر برابر سره زر وی. او هغه د خدائے په لاره کښې خرچ کړی نو الله به ئے قبول نۀ کړی تر څو چه ئے په تقدیر باندے ایمان نۀ وی راوړے. بیائے اووے حدیث بیان کړے دے ماته ځما پلار عمرؓ بن الخطاب چه یوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. په دے کښې یو سړے را اورسیدو چه کپړے ئے زیاتے سپینے وے. او ویختۀ ئے زیات تور وو دا نۀ وه معلوم چه هغه د سفر نه راغلے دے او نۀ زمونږ نه هغه چا پیژندو هغه کیناستو د حضور ﷺ سره. او خپل زنګونان ئے دحضرت ﷺ د زنګونانو سره ملاؤ کړل (لکه څنګه چه شاګرد د استاذ مخے ته کینی) بیائے اووے اے محمد ﷺ اوښایه ماته اسلام څۀ دے؟ رسول الله ﷺ اوفرمائل اسلام دا دے چه تۀ ګواهی ورکړه (یعنی په ژبه سره اووایه او په زړۀ سره یقین اوکړه) د دے خبرے چه نشته دے بل معبود سوا د خدائے نه او محمد (ﷺ) د هغۀ رالیږلے شوے رسول (ﷺ) دے او قائموه مونځونو لره او ادا کوه زکوٰة لره. او روژے ساته د رمضان او حج کوه د خانه کعبے کۀ چرے ستا نه کیږی (یعنی د لارے خرچ درسره وی او په لاره کښې څۀ یره

وَيُصَدِّقُهُ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ قَالَ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَتِهَا قَالَ أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِي يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ

نۀ وی،هغۀ اووے تا رښتیا اووے. مونږ حیران شو چه پخپله تپوس کوی او بیا پخپله وائی چه رښتیا دے اووے (حالانکه تپوس کونکے بے علمه وی او رښتیا دِ اووے هغه کس وائی چه هغۀ ته علم وی.دا دواړه کاره یو سړے څنګه اوکړی)بیا هغه سړی اووے ماته اوښایه چه ایمان څۀ دے؟پیغمبر ﷺ اوفرمائل ایمان دادے چه تۀ یقین اوکړه(د زړۀ نه) په الله باندے. او د هغۀ په فرښتو باندے(چه هغه د الله تعالی پاک بندیګان دی. او د هغۀ حکم په ځائے کوی او خدائے پاک ورته لوئے طاقت ورکړے دے)او د هغۀ په پیغمبرانو باندے (چه هغے لره رالیږلی دی د حق دلارے د ښودنے دپاره)او په ورځ د آخرت باندے(یعنی دقیامت ورځ چه په دغه ورځ به حساب کتاب وی. او د ښۀ اوبدو اعمالو حساب کتاب به کیږی)او یقین اوکړه په تقدیر باندے چه بد او ښۀ ټول د خدائے پاک د طرفه دی (یعنی د ټولو خالق هغه دے) هغه سړی اووے چه تا رښتیا اووے. بیا هغه سړی خمانه تپوس اوکړو. چه اوښایه ماته احسان څۀ دے؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائل احسان دادے چه تۀ د خدائے پاک عبادتکوه په دے شان لکه چه تۀ خدائے وینے کۀ دومره نۀ وی،نو داسے اوګڼړه چه هغه تا وینی. بیا هغه سړی اووے چه اووایه ماته چه قیامت به کله وی؟ حضرت ﷺ اوفرمایل د چا نه چه تپوس کوے هغه پخپله د تپوس کونکی نه زیات نۀ پوهیږی. بیا هغه سړی اووے ماته دے نخښے او ښایه؟ حضرت ﷺ اوفرمائل یوه نخښه داده چه وینځه به خپلے بی بی لره اوزیږه وی. دویمه نخښه داده چه تۀ به اوګورے چه د چا په خپو پیزار نۀ وو. او په تن پورے ئے کپړے نۀ وے

هغه (غریبانان) به لوړے لوړے عمارتونه جوړ وی راوی وائی چه بیا هغه سړے لاړو. زهٔ د ډیر وخته پورے حصار شوم ددے نه پس حضرت ﷺ ماته اوفرمایل اے عمره! تهٔ پیژنے چه دا تپوس کونکے څوک وو؟ ما اووے الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی. حضرت ﷺ اوفرمایل دا جبرائیل وو تاسو ته ستاسو ددین د ایزدکولو دپاره راغلے وو[1].

[1] یعنی د تقدیر نفی نے اوکړه او بدعت نے را اوویستو او د اهلِ حق مخالفت نے اوکړو. ولے چه حق تقدیر لره ثابتوی یعنی فرمانی چه الله جل جلاله په ازل کښ د ټولو څیزونو اندازه لګولے وه. یعنی هغه ته معلومه وه چه فلانے څیز به په فلانی شان واقع کیږی. بیا د هغے موافق څنګه چه د خدائے تعالی په علم کښ وو هغه څیز ظاهریږی. او د ربه ددے امر نه انکار کوی هغه وائی چه الله جل جلاله ددے خبرے اندازه نهٔ ده کړے. هغهٔ ته ددے علم نهٔ وو. بلکه هر کله چه هغه څیز واقع شو نو دغه وخت خدائے ته د هغے علم اوشو او دا د هغوی دروغ دی په الله عزوجل باندے. او دے فرقے ته قدریه څکه وائی چه هغه انکار کوی د قدر صاحب مقالات ویلی دی چه دا فرقه قدریه ختمه شوه. او څوک د اهل قبله نه ددے قول قائل نهٔ دے پاتے. او په آخره زمانه کښ چه چاته قدریه ویلے شی هغه به تقدیر الهی لره ثابتوی خو دا وائی چه شر د شیطان او بنده د طرفه دے او خیر د الله تعالی د طرفه دے چه بنده بالکل قادر دے. او هغه پخپله د خپلو کارونون کهٔ خیر وی یا شر خالق دے. او رافضی هم په دے باب کښ د معتزله سره شریک شوی دی او محدثین دا وائی چه خالق څوک نشته دے سوا د خدائے نه. او خاص خدائے د ټولو څیزونو خالق دے تر دے پورے چه د انسان د افعالو او خیالاتو او ارادے هم خالق دے. خو خدائے پاک بنده لره یو قسم اختیار ورکړے دے. چه په هغے باندے عذاب او ثواب منحصر دے خو دے اختیار ته خلق نهٔ شی ویلے. پخپله په قرآن مجید کښ دا خبره موجوده ده. وَاللهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ یعنی الله تاسو لره پیدا کړل او ستاسو عملونو لره او فرمایلی دی هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ یعنی څوک خالق نشته سوا د الله نه. ابو محمد بن قتیبه په غریب الحدیث کښ او ابو المعالی امام الحرمین په ارشاد کښ دا لیکلی دی چه بعض قدریه وائی چه مونږ قدریه نهٔ یو. بلکه اهل سنت قدریه دی. ولے چه هغه قدر او قضا ثابتوی. او دا محض دهوکه او فریب دے. ددے دپاره چه خاوندانو د حق ټولو کارونو لره خدائے پاک ته سپاری. او قدر او ټول افعالو لره د خدائے په طرف نسبت کوی. او دا جاهلان خپل طرفته نسبت کوی. او کوم سړے چه خپل طرفته نسبت کوی د څهٔ نو هغه اولی دے چه نوم کیږدی ددغه څیز سره په نسبت د هغه سړے چه هغه دے څیز لره د خپله خانه نفی کړی او د غیر دپاره نے ثابت کړی امام الحرمین ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. قدریه ددے امت مجوسیان دی. نو مشابهت نے ورکړو قدریه لره د مجوسیانو سره. لکه مجوس (فارسی خلقو) چه دوه خالق ثابت کړی دی. یو د خیر هغے ته (یزدان) وائی یو د شر هغے ته "اهرمن" وائی په دے شان قدریه هم د شر خالق بنده ګنړلے دے. بلکه د مجوسو هم زیات بدتر دی. ولے چه مجوسو دوه خالقه ګنړلی دی او دوی په زرګونو لکهونو او کروړونو خالقان کړل. نووی ولیلی دی چه دا حدیث چه قدریه ددے امت مجوسیان دی. روایت کړے دے ابو هاذم د ابن عمر نه او هغوی د رسول الله ﷺ نه او دے لره ابو داؤد روایت کړے دے په خپل سنن کښ او حاکم په مستدرک کښ او ویلی دی چه صحیح دے د بخاری او مسلم په شرط باندے کهٔ چرے د ابوحازم سماع د ابن عمر نه ثابته شی خطابی ویلی دی چه رسول الله ﷺ قدریه ته مجوس ددے وجے نهٔ وائی چه ددوی قول د مجوسیانو د مذهب مشابه دے ولے چه مجوس د دوو اصلونو قائل دی یو د "نور" یعنی رڼرا او بل "ظلمت" یعنی تیَرے. او وائی چه خیر د نور فعل دے او شر د ظلمت نو هغه

بت پرست او مشرکان شوي دي. په دے شان قدریه نسبت کوي د الله د طرف نه د خیر. او نسبت کوي د شر د بل د طرفنه حالانکه الله جل جلاله د خیر او د شر د هر څۀ خالق دے او څۀ کار بد یا نیک د هغۀ د ارادے نه بغیر نۀ کیږي. نو خیر او شر دواړه په اعتبار د خلق د الله پاک په طرف منسوب دي او په اعتبار د کسب او فاعلیت د بنده په طرف او بعضے سرے د قضا او قدر مطلب دا ګڼړي چه بنده بالکل مجبوره دے. د خدائے او قدر په مخکښ او دۀ ته ه څۀ شان له اختیار نشته دے. دے ته فرقه جبریه وائي چه د قدریه پشان ګمراه دہ. او د اهل سنت نه خارجه دہ حالانکه د قضا قدردا مطلب نۀ دے بلکه قضاقدر د خدائے تعالی علم دے. چه بنده څنګه کار کوي بد یا نیک او کله ئے کوي خو بنده ته دد ے علم نۀ وي. په دے واسطه هغه ټول کارونه په خپل اختیار سره کوي. او د هغے ثواب یا عذاب ورته میلاویږي (نووي). سمعاني په کتاب الانسان کښ لیکلي دي چه جهني نسبت دے جهینه طرفته چه دا یوه قبیله ده د قضاعه نه. او د هغې نوم زید بن لیث بن اسود بن اسلم بن الحاف بن قضاعه وو. څۀ خلق ددوي په کوفه کښ دي. بلکه یوه محله ده په کوفه کښ چه جهنوه طرفته نسبت کوي. او څۀ په بصره کښ دي او په بصرے والا کښ وو معبد بن خالد جهني چه د حسن بصري شاګرد وو. د ټولو نه مخکښ هغۀ خبرے اترے کړے دي چه تقدیر باندے په بصره کښ بیا بصرے والاد هغۀ په لاړ روان شو. حجاج بن یوسف هغۀ لره ګرفتار کړو او قتل ئے کړو. په تقریب کښ دي بعضو ویلي دي چه دهغۀ د پلار نوم عبد الله بن عقیم دے. او بعضو ویلي دي چه دهغۀ نیکۀ عویمر وو هغه ربښتونړ دے لیکن بدعتي وو. هغه دهر چا نه اول په تقدیر کښ خبرے اترے کړے وے په بصره کښ او په کال ۸۰ هجري کښ قتل کړے شوے وو. په حدیث کښ دلته یَتَقَفَّرُوْنَ دے په وراندے والي د قاف په فاء باندے. چه معنی ئے داده. چه طلب کوي علم لره او شوق لره. او په بعضے نسخو کښ یَتَقَفَّرُوْنَ دے چه معنی ئے داده چه نکتے رااوباسي. او نکتے جوړ وي. او بعضو د مسلم نه سوا دا لفظ روایت کړے دے. یَتَقَفَّوْنَ چه حذف د راء چه معنی ئے داده پیروي کوي د علم. قاضي عیاض وائي چه بعضے یَتَقَعَّرُوْنَ وائي. د تَقَعُّر نه یعني ژوړے خبرے رااوباسي. او د ابویعلی په روایت کښ یَتَفَقَّهُوْنَ دے چه معنی ئے داده یعني فقهه حاصلوي (نووي). یعني ابتدائي ناڅاپه بے سوچه او بے پوهے شول. الله تعالی ته د وراندے نه دد ے علم نۀ وو. نۀ هغه دد ے نه وراندے څۀ اندازه کړے وه بلکه دواقع کیدو نه پس خدائے پاک ته علم شو. لکه چه مخکښ تیر شو چه دا قول د غلاۃ قدریه دے. او د ټولو قدریه نۀ دے. اوقائل دد ے ګمراه او دوغجن دے. خدائے پاک د ټول مسلمانان یعني د اسلام علاقه دد ے اعتقاد نه بچ اوساتي. ولے چه هغه ټول کافران دي. قاضي عیاض وائي چه مراد هغه قدریه دي چه د خدائے تعالی علم د مخلقو سره نفي کوي هغه بالاتفاق کافر دي. او دا خلق په حقیقت کښ فلاسفه دي. چه هغه وائي الله تعالی ته د جزیاتو علم نشته نۀ کیدے شي. او کۀ وي هم نو یو شان اجمالي علم به وي. نۀ تفصیلي. بعضو ویلي دي. چه د ابن عمر دا قول د قدریه په کافر کیدو باندے ښکاره دلالت کوي. او احتمال دے چه مراد د کفر نه ناشکري وي. لیکن د مخکښ عبارت نه ښکاره ددوي کفر معلومیږي. په دے یوه فقره کښ رسول الله ﷺ ټول تصوف او سلوک لره بیان کړے دے.

د تصوف تعریف:

خلاصه د تصوف داده چه د بنده د خدائے پاک سره محبت او الفت پیدا شي. او د خدائے پاک خیال هر وخت د بنده په زړۀ کښ وي. نو اعلی درجه دد ے داده چه بنده د خدائے د ذات په تصور کښ داسے مستغرق شي. چه سوا د خدائے نه ورته څۀ په نظر نۀ راځي. کۀ په ظاهر د سترګو سره ددنیا څیزونه ویني او په غوږونو سره آوري. خو هر کله چه زړۀ د خدائے سره لګیدلے دے نو سترګے او غوږونه د مړي د سترګو او غوږونو پشان کهولاو دي. سترګے ویني غوږونه آوري مګر د تصور او خیال د مولا سره دے. دے ته وحدۃ الشهود

واټي چه دا علي درجه فقیرانو او صوفیانو او د خدائے پاکو بندیګانو ته حاصلیږي. او یوه مرتبه ددے نه ادنی ده. چه د هغے د حاصلولو دپاره هر مسلمان لره کوشش کول پکار دي. هغه دا چه هر وخت خدائے پاک حاضر او ناظر اوګنړي. او دا یقین اوکړي چه خدائے پاک ددۀ په ټولو حرکاتو او سکناتو ترډے پورے چه د زړۀ خطرات او خیالات هم بنۀ ویني او پرے پوهه دے. بیا د هغۀ د عبادت په وخت د دویم څیز یعني نورو څیزونو سره زړۀ لګول او بیهوده وسوسے خپلول د شیطان کار دے. د هغے نه پناه غوښتل پکار دي نووي واټي مقصود دے کالم نه دادے چه بنده په عبادت کښې اخلاص کوي او د زړۀ د اخلاصه نے کوي. یعني عبادت ډیر په خشوع او خضوع سره کوي. قاضي عیاض ویلي دي چه دا حدیث داسے جامع دے چه ټول د شریعت علوم ددے نه وتلي دي. یعني د قیامت راتلل چا ته معلوم نۀ دي سوا د الله نه نووي ویلي دي ددے حدیث نه معلومه شوه چه د مفتي او عالم نه هر کله چه د داسے خبرے تپوس اوکړے شي چه په هغے هغه نۀ پوهیږي نو دا وئیل پکار دي چه ماته معلومه نۀ ده او دا ویل به د هغۀ د ذلت او نقصان باعث نۀ وي. بلکه دلیل دے ددۀ کمال علم او دینداري او تقوی. لویو لویو امامانو لکه ابوحنیفه او مالک په ډیرو مسائلو کښې سکوت کړے دے. او دانے ویلي دي چه مونږ ته معلومه نۀ ده. دا ترجمه ده. أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا ددے لکه دا روایت کړے او په لړ روایت کښې که رَبَّتَهَا په بدله کښې رَبَّهَا دے. د تذکیر سره نو ترجمه به داوي. چه پیدا به کړي وینځے خپل آقا لره. او په یو روایت کښې بَعْلَهَا دے. یعني پیدا به کړي وینځې خپل خاوند لره. ددے فقرے په مطلب کښې مختلف اقوال دي. بعضو ویلي دي مطلب دادے چه وینځے به ډیرے نیولے شي. او د هغوي اولاد به ډیر خور شي. او ظاهره ده. چه وینځه هم د شریعت په رُو سره یو مال دے. او د پلار مال د هغۀ نه پس د خوني وي. او خوني لور د خپلے مور بنځے بي بي مالکان وي. بعضو ویلي دي مراد دادے چه وینځې به د بادشاهانو میانډے شي. ولے چه ددغه زمانے بادشاه به د شریعت مطابق د نکاح پابند نۀ وي. بلکه ډیر نکاحونه به نۀ کوي وینځې او خدمتګارانے به ساتي. بیا به د هغوي بچي هلکان جینکۍ په تخت باندے کیني او بادشاهان به جوړیږي او خپلے مور لره به په خپل رَعیت کښې شاملوي. او بعضو ویلي دي غرض دادے چه د خلقو حال به تباه شي. او د بچي مور خرخول به شروع کړي دغه وینځۀ به خرڅیږي څۀ وخت پس به بیا دلته راشي یعني خرڅه به شي په دغه خوي خپل باندے په هغه وخت چه دے به خوان شوے وي. او دا به ورته معلومه نۀ وي چه دا خما مور ده. او دا صورت سوا د اُمّ ولد نه په نورو خلقو کښې هم کیدے شي. مثلاً دیوے وینځے سوا د هغے د مالک نه د چا بل چا سره وي. په نکاح یاشُبه یا په زنا سره. بیا هغه وینځه خرڅیږي خرڅیږي ددغه هلک په لاس کښې راشي او هغه نے نۀ پیژني. اود بَعْل معنی هم د مالک او سید راځي. لکه أَتَدْعُوْنَ بَعْلًا یعني تاسو چغے وهي مالک ته بعضو ویلي دي چه د بعل نه مراد خاوند دے. یعني خصم هغه واټي دوینځو اغستل او خرڅول به دومره په کثرت سره شي. چه کله به یو سړے خپله مور په نکاح کوي او هغۀ ته به معلومه نۀ وي. او بعضو ویلي دي مراد دادے څه خلق به د میاندو عزت او حرمت پریږدي او د خپلے مور سره به داسے سلوک کوي کوم چه د وینځو سره کوي خدائے پاک د مونږ پخپله پناه کښې اوساتي. په دے زمانه کښې ډیر خلق داسے شته چه دپلار مور ادب نۀ کوي. او د هغوي فرمانبراري نۀ کوي. بلکه د وینځو غلامانو پشان هغوي لره لکه د کور د سپي دباوه وي. امام نووي رحمه الله ویلي دي چه ددے حدیث نه دا خبره نۀ شي وتلے د اُمّ ولد بیعه ممنوع یا جائز ده. او کومو خلقو چه استدلال کړے په

بَابُ الْإِيمَانِ مَا هُوَ وَبَيَانُ خِصَالِهِ

باب : د ایمان حقیقت او د هغې د خصلتونو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا بَارِزًا لِلنَّاسِ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا الْإِيمَانُ قَالَ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكِتَابِهِ وَلِقَائِهِ وَرُسُلِهِ وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْآخِرِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ یوه ورځ په خلقو کښې تشریف فرما وو چه په دے کښې یو سړے راغے او وے وئیل چه یا رسول الله ﷺ ایمان څۀ ته وائي؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ایمان دا دے چه د زړۀ نه یقین اوکړے په الله پاک باندے. د هغۀ په فرشتو او د هغۀ په کتابونو باندے. او د هغۀ په ملاقات باندے او د هغۀ په پیغمبرانو باندے او

دے امر باندے دد ے حدیث نه حیران دی. دد ے دپاره چه کوم څیز د قیامت نخښه وی د هغې حرام یا مذموم کیدل ضروری نۀ دی ولې چه دنگ دنگ کورونه جوړول ، دولت ډیر گټل، پنځوس پنځوس ښځے ساتل حرام نۀ دی حالانکه هغه هم د قیامت نخښے دی. یعنی ددنیا په حالت کښې به یو لوئے انقلاب وی. کوم خلق چه غریب کنگال وگی وو. هغه به امیرو مالدار شی. او کوم چه امیر او مالدار وو هغه به غریب او محتاج شی. اگر چه داسے انقلاب په دنیا کښې په لویو جنگونو سره څو ځله راغلے دے او قیامت ته تړدے به هغه په توله دنیا کښې وی. او تر او سه پورے چه کوم شوی دی هغه ددنیا په یوه حصه کښې شوی دی لکه څنګه چه په دویم روایت کښې دی چه قیامت ته تړدے به قتل اووینے تو یول ډیر زیات شی او په توله دنیا کښې به فساد جوړ شی. او بعضو ویلی دی چه مراد د هغه لغړو او کنگالو نه د عربو خلق دی. او دا یوه پیشن گوئی وه د هغوی دپاره چه اسلام به ترقی اوکړی. او د عربو شان شوکت به اوچت شی. او هغه به د محتاجۍ او غربت نه راووځی او مالدار او امیران به تر نه جوړ شی. بیا داسے اوشوه چه د هغۀ د وفات نه لږه موده پس ایران او روم او مصر فتح شول او د عربو خلق مالامال شو. دا ترجمه ده د فَلَبِثْتُ مَلِيًّا او په بعضو نسخو کښې فَلَبِثَ مَلِيًّا یعنی د ډیر وخته پورے چُپ پاتے شو. او د ابوداؤد او ترمذی په روایت کښې دی. دد رے ورځو نه پس حضرت ﷺ زما سره ملاو شو. لیکن دا په ظاهره مخالفت دے د حضرت ابوهریره ؓ د روایت. چه هغه سړی شاګره اولاړو. هغۀ اوفرمایل چه دے راولئ. خلقو وړسے منډے کړے نو هلته ئے څوک او نۀ موندو. دغه وخت رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا جبرائیل وو. او ممکن دے تطبیق په دے طور باندے چه حضرت عمر دغه وخت د مجلس نه پاسیدلے او تلے وی. خو هغه نورو خلقو ته دغه وخت ویلی وی. او د حضرت عمر نۀ درے ورځے پس د هغۀ معلومه شوے وی. چه ایمان او اسلام او احسان تول په دین کښې شامل دی یعنی داخل دی او دا حدیث د علوم او د معارفو ډیرو قسمونو لره راگیرونکے دے. بلکه هغه اصل دے د اسلام. لکه څنګه چه مونږه د قاضی عیاض نه نقل کړو او څۀ فائدے دد ے پورته ذکر شوی دی یوه فائده دد ے دا هم ده چه هر کله د مجلس خاوندانو ته د څۀ خبرے علم نۀ وی نو د هغې د معلومولو دپاره تپوس کول صحیح دی. دد ے دپاره چه ټول خبر شی. دویمه داده چه عالم لره ډیره نرمی کول پکار ردی. او تپوس کونکی ته په ښۀ شان سره جواب ورکول پکار دی چه د هغۀ زړۀ جمع شی.

قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا الْإِسْلَامُ قَالَ الْإِسْلَامُ أَنْ تَعْبُدَ اللهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا الْإِحْسَانُ قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنَّكَ إِنْ لَا تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ وَلَكِنْ سَأُحَدِّثُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا إِذَا وَلَدَتِ الْأَمَةُ رَبَّهَا فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا وَإِذَا كَانَتِ الْعُرَاةُ الْحُفَاةُ رُءُوسَ النَّاسِ فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا وَإِذَا تَطَاوَلَ رِعَاءُ الْبَهْمِ فِي الْبُنْيَانِ فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا فِي خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللهُ ثُمَّ تَلَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ قَالَ ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُدُّوا عَلَيَّ الرَّجُلَ فَأَخَذُوا

یقین لوکړے د پلیبدو د ورځے په آخرے باندے بیا هغه سړی اووے یا رسول الله لسلام څۀ دے؟ حضرتﷺ اوفرمایل اسلام دادے چه ته د الله پاک جل جلاله عبادت کوه اود هغه سره ځوک شریک مۀ گرځوه او فرض مونځ لره پخپل خپل وخت کوه او زکوٰة چه درباندے ځومره فرض وی ورکوه. او د رمضان روژے نیسه بیا هغه سړی اووے یا رسول اللهﷺ احسان څۀ دے؟ حضرتﷺ اوفرمایل چه ته عبادت کوه د الله پاک لکه چه ته وینے هغۀ لره. او کۀ چرے ته هغه لره نۀ وینے (یعنی دومره ژوروالے دِ نۀوی اودا درجه در نه نۀ کیږی) نو دومره خو دِ وی چه هغه تا وینی. بیا هغه سړی اووے یا رسول اللهﷺ قیامت به کله وی حضرتﷺ اووے د چا نه چه تپوس کوے د قیام هغه پرِ د تپوس کونکی نه زیات نۀ دے پوهه لیکن د دے نخښے به زۀ تا ته بیا ن کړم هر کله چه وینځه خپل مالک لره اوزیږه وی. نو دا د قیامت نخښه ده. هر کله چه خپے ابله خپے او بربند گرځیدلے خلق سرداران شی. نو دا د قیامت نخښه ده. او هر کله چه گډے بِزے ساتونکے خلق لوئے لوئے بنگلے جوړے کړی. نو دا هم د قیامت نخښه ده.قیامت د هغه پنځو ځیزونو نه دے چه په هغے د خدائے نه سوا ځوک نۀ دی پوهه بیا رسول اللهﷺ دا آیت اولوستو. یعنی صرف الله ته علم دے د قیامت. او ورروی اُبولره. او پوهیږی په کیډو د میاندو باندے (یعنی نر یا ښځه) او ځوک په دے نۀ دے پوهه چه هغه به صبا څۀ کوی او چا ته دا پته نشته چه هغه به په کوم ملک کښں مری الله پاک پیژندونکے او خبردار دے. راوی وائی چه هغه سړی شا کړه او لاړو. پس اووے رسول اللهﷺ ما ته دۀ لره

لِيَرُدُّوهُ فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا جِبْرِيلُ جَاءَ لِيُعَلِّمَ النَّاسَ دِينَهُمْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلُونِي فَهَابُوهُ أَنْ يَسْأَلُوهُ فَجَاءَ رَجُلٌ فَجَلَسَ عِنْدَ رُكْبَتَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا الإِسْلَامُ قَالَ لَا تُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصُومُ رَمَضَانَ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا الإِيمَانُ قَالَ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكِتَابِهِ

واپس راولئ. خلق دهٔ د واپس کولو دپاره لاړو. لیکن هلته ئې څهٔ اونهٔ موندل (یعنی د هغه سړی نخښه هم ملاو نهٔ شوه) بیا پیغمبرﷺ اوفرمایل دا جبریل وو تاسو ته د دین د خبرو ایزده کولو د پاره راغلې وو [1].

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ فرمایلي دي تپوس کوئ څما نه (دين د خبرو کومې چه ضروری دي البته بې ضرورته تپوس کول منع دي) خلقو یره کوله په تپوس کولو کښې (یعنی په هغوی باندے د هغویﷺ رعب پریوتو) نو یو سړے راغې او د حضرتﷺ د زنګونانو سره کیناستو. او دائې اووے. یا رسول اللهﷺ اسلام څهٔ دے؟ حضرتﷺ اوفرمایل. د الله سره چا لره شریک او نهٔ ګرځوے. او مونځ قائم کړه. زکوٰة ورکوه او د رمضان روژے نیسه هغه اووے چه رښتیا د اووے بیا هغه اووے. یا رسول اللهﷺ ایمان څهٔ دے؟ حضرتﷺ او فرمایل. یقین اوکړه ته په الله پاک

[1] د خدائے سره میلاویدل خو د مرګ سره کیږی او د ورستو د ژوندی پاسیدو نه مراد قیامت دے. بعضے وائے چه دخدائے سره ملاویدل به د حساب او کتاب نه پس کیږی. لیکن د ملاویدو نه دخدائے دیدار مراد نهٔ دے. ولے چه هغه به خاصو خلقو لره وی (نووی).
یعنی د خدائے برابر به څوک نهٔ ګڼړے نهٔ په قدرت کښې نهٔ په تصرف کښې نهٔ په عبادت کښې، نهٔ په دُعا کښې بلکه کهٔ عبادت کوے نو د خدائے به کوے کهٔ غواړے نو د خدائے نه به غواړے. سوا د خدائے نه به تولو لره عاجز بنده خیال کوے. اګر چه بعضے بندیګانو او غلامانو لره پروردګار ډیرے درجے اوچتے کړی دی او هغه ئے په ډیر څهٔ سره سرفراز کړی دی. خو د اللهؕ په مخکښې هغه بندیګان غلامان دی. البته په بندیګانو کښې هغوی ته غوره حیثیت حاصل دے. دا تول څیزونه په عبادت کښې داخل دی. مګر چونکه دا څیزونه په عبادت کښې د اعلی درجے وو ددے دپاره هغے لره جدا بیان کړل. او بعضو ویلی دی چه د عبادت نه مراد د الله پیژندل دی او اقرار دے د هغهٔ د وحدانیت. په مانځهٔ کښې د فرضو قید ددے دپاره اولګوو چه د مسلمانیدو دپاره صرف فرض ادا کول پوره دی. د سنتو او مستحباتو ادا کول لازم نهٔ دی. په دے شان نفل او صدقات ورکول لازم نهٔ دی. او د مانځهٔ د قائمولو نه مراد دادے چه همیشه په پابندئ سره ئے لوله. یا د تولو شرائطو او ارکانو سره ئے پوره کوه. د حضرتﷺ په زمانه کښې په عرب او هند او روم او مصر او ایران کښې د یو شان تهذیب او ښهٔ والے وو. او یورپ یعنی د فرنګستان خلق بالکل وحشی جاهل بدتمیزه د ښناورو پشان وو. خصوصاً د انګلینډ خلقو او د روم خلق خو د انسانیت سره ډیره لږه حصه لرله. او د ښناورو پشان په ځنګلو او غرونو کښې اوسیدل په دوی کښې د بادشاهت یا ملک دارئ طریقه بالکل نهٔ وه. اوس زمونږ په زمانه کښې د څو ورځو نه. هغه وحشی خلقو هغه ترقی کړے ده. چه د تمامے دنیا حاکمان او سرداران جوړ شوی دی پس شاید دا هم د قیامت نخښه وی. او دا مراد وی ددے حدیث نه

وَلِقَائِهِ وَرُسُلِهِ وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ كُلِّهِ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا الْإِحْسَانُ قَالَ أَنْ تَخْشَى اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنَّكَ إِنْ لَا تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَتٰى تَقُوْمُ السَّاعَةُ قَالَ مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ وَسَأُحَدِّثُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا إِذَا رَأَيْتَ الْمَرْأَةَ تَلِدُ رَبَّهَا فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا وَإِذَا رَأَيْتَ الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الصُّمَّ الْبُكْمَ مُلُوكَ الْأَرْضِ فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا وَإِذَا رَأَيْتَ رِعَاءَ الْبَهْمِ يَتَطَاوَلُوْنَ فِي الْبُنْيَانِ فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا فِي خَمْسٍ مِنَ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللهُ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ قَالَ ثُمَّ قَامَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُدُّوهُ عَلَيَّ فَالْتُمِسَ فَلَمْ يَجِدُوهُ فَقَالَ رَسُوْلُ

بلندے او د هغهٔ په فرښتو باندے او د هغهٔ په کتابونو باندے او د هغهٔ سره په ملاقات باندے او د هغهٔ په پیغمبرانو باندے او د مرګ نه پس په ژوندی پاسیدو باندے. او یقین اوکړه ته په پوره تقدیر باندے. هغهٔ اووے رښتیا د اووے. بیا هغه اووے یا رسول الله ﷺ احسان څهٔ دے؟ حضرت ﷺ اوفرمایل د الله نه یره کوه داسے لکه ته چه هغه لره وینے. کهٔ چرے ته هغه لره نهٔ وینے نو هغه خو تا وینی هغه سړی اووے رښتیا دِ اووے بیا هغه اووے یا رسول الله ﷺ قیامت به کله وی؟ حضرت ﷺ اوفرمایل د چا نه چه تپوس کوے هغه د تپوس کونکی نه زیات پوهه نهٔ دے. البته زهٔ تا ته د هغے نخښے بیانوم. چه هر کله ته وینځے ته اوګورے (یا بنځے ته) چه هغه به خپل مالک لره اوزیږوی نو دا د قیامت نخښه ده او هر کله چه تهٔ اوګورے چه لغړ او برېنډ او خپے ابله خپے او کاڼه او چاړګان خلق (یعنی احمق او نادانان) به د ملک بادشاهان شی. نو دا د قیامت نخښه ده. او هر کله چه تهٔ اوګورے چه بزے څرونکی خلق به لوئے لوئے بنګلے جوړوی نو دا د قیامت نخښه ده. قیامت د غیبو د پنځو خبرو نه دے چه د هغے علم سوا د خدائے نه بل چا ته نشته دے. بیا حضرت ﷺ دا ایات او لوستو إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ د آخره پورے. یعنی د الله سره دے د قیامت علم او راوروی اُوبهٔ او پیژنی هغه څهٔ چه د مور په ګیډه کښں دے او چا ته دا پته نشته چه صبا به څهٔ کوم. او څوک د دے نه خبر نهٔ دی چه زهٔ به په کوم ملک کښں مرم. بیا هغه سړے پاڅیدو (اولاړو) رسول الله ﷺ اوفرمایل چه دے زما خواله راولی. هغه خلقو هر طرفته آخوا دیخوا اوکتو لیکن چرته ئے اونهٔ موندو. هغوی ته رسول الله ﷺ اوفرمایل دا جبرائیل ؑ وو. هغوی دا غوښتل چه تاسو ته علم راشی هر کله

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا جِبْرِيْلُ أَرَادَ أَنْ تَعَلَّمُوْا إِذْ لَمْ تَسْأَلُوا

چه تاسو څۀ تپوس او نۀ کړو. (یعنی تاسو سوال او نۀ کړو او په رُعب کښې راغلئ). نو حضرت جبرئیلؑ د سړی لباس جوړ کړو او راغے. او د ضروری خبرو تپوس ئے اوکړو او لاړو د دے دپاره چه تاسو کښې علم راشی.

بَاب بَيَانِ الصَّلَوَاتِ الَّتِي هِيَ أَحَدُ أَرْكَانِ الْإِسْلَامِ

باب: د مونځونو بیان. چه هغه د اسلام یو رکن دے

عَنْ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللهِ يَقُوْلُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرُ الرَّأْسِ نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهِ وَلَا نَفْقَهُ مَا يَقُوْلُ حَتَّى دَنَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ وَصِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ فَقَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ وَذَكَرَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّكَاةَ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُوْلُ وَاللهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هٰذَا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د طلحه بن عبیدالله نه روایت دے. د نجد والاؤ نجد په عربو کښې د یو ملک نوم دے)نه یو سړی رسول الله ﷺ له راغے. چه د هغۀ ویښتۀ ګډوډوو. د هغه د اواز د بنګار اوریدے شو. لیکن څوک پرے نۀ پوهیدل چه څۀ وائی. تر دے پورے چه هغه رسول الله ﷺ ته نژدے راغے نو معلومه شوه چه د اسلام په باره کښې تپوس کوی. رسول الله ﷺ اوفرمایل. په شپه او ورځ کښې پنځۀ مونځونه دی. هغه اووے دے نه سوا په ما باندے بل څۀ مونځۀ شته. حضرت ﷺ اوفرمایل نۀ مګر کۀ نۀ نفل کول غواړے او د رمضان روژے دی. هغۀ اووے په ما باندے د رمضان نه سوا بله څۀ روژه شته حضرت ﷺ اووے نه مګر کۀ نفل روژه نیول غواړے. بیا پیغمبرؐ هغۀ ته د زکٰوة بیان اوکړو هغۀ اووے په ما باندے د دے نه سوا بل څۀ څیز شته؟ حضرت ﷺ اوفرمائل نه مګر دا کۀ نفل د ثواب دپاره صدقه ورکول غواړے راوی وائی هغه سړے راواوګرځیدو او دائے اوویل او روان شو چه په خدائے مِ د قسم وی. نۀ به زۀ د دے نه زیات اوکړم او نۀ به پکښې کمے راولم رسول الله ﷺ اوفرمایل دۀ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ

خلاصے اوموندہ کہ چرے رښتونے وی[1]

عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ وَأَبِيهِ إِنْ صَدَقَ أَوْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَأَبِيهِ إِنْ صَدَقَ

روایت دے د طلحه بن عبیدالله نه او هغه د نبی کریم نه دویم روایت هم داسے دے. لکه څنګه چه وړاندے تیر شو دومره فرق دے چه هر کله دغه سړی اووے چه قسم په خدائے نۀ به زیاتے اوکړم په دے کښې نۀ کمے. نو رسوال الله ﷺ اوفرمایل خلاصے اوموندۀ دۀ. قسم دے دۀ په پلار کچرے رښتونے وی. یا جنت ته به خی قسم دۀ د پلار کۀ رښتونے

---

[1] : یعنی سوا ددے پنځۀ مونځونو نه بل څۀ مونځۀ فرض نۀ دے. بلکه سنت دے یا مستحب او د وتر مونځ او د اختر او د تندر د نیولو مونځ دا ټول سنت دی د حنفیه په نز وتر، د اخترو مونځۀ او سرسایه واجب دی. ددوی خپل دلائل دی چه احنافو هغه په خپلو کتابونو کښې لیکلی دی او کوم څوک چه ورته واجب وائی په هغے باندے دا حدیث حجت دے. هغه وائی شاید د دغه وخت پورے د وتر او د اختر مونځ واجب شوے نۀ وی. مګر دا صرف احتمال دے. درمضان نه سوا بله روژه فرض نۀ ده. مګر دا کۀ ته نفل روژه نیول غواړے. نو قضاء روژه د رمضان روژه ده. او د ظهار وغیره په کفارو کښې روژه متعین نۀ ده. په نورو څیزونو سره کفاره ادا کیږی ویل نے چه د زکوٰة نه سوا په ما باندے سوا څۀ څیز شته حضرت ﷺ اوفرمائیل نه مګر دا کۀ ته د نور نفل ثواب دپاره صدقه ورکول غواړے. نو سرسایه واجب نۀ شوه. او څوک چه ورته واجب وائی هغه خیال کوی. چه ددے وخت پورے واجب نۀ وه. ددے سړی د واپس تلو سره په دے وینا کولو باندے چه په خدائے م دِ قسم وی نه به زۀ په دے کښې زیاتے راولم او نۀ به پکښې کمے اوکړم. حضرت ﷺ اوفرمائیل مراد اوموندو هغه کچرے رښتونے دے. کۀ چرے دا ټولے خبرے ئے اومنلے او کمے ئے او نۀ کړو په دے کښې نو په آخرت کښې به مراد اومومی او خپل مراد ته به اُورسی. او چا چه زیات کړو ددے نه نور نو غوره دے. ددے دپاره چه په دے مقام دا اعتراض کیږی چه د دین ارکان او اعمال نور هم دی نو بیا دے سړے دا ولے اووے چه ددے نه به زیات نۀ کوم. جواب ددے دادے چه د بخاری په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ دۀ ته د شریعت خبرے ښودلے. او هغۀ ویلی وو. قسم په خدائے چه څومره قدرے الله په ما باندے فرض کړے دے. زۀ په هغے کښې به کمے او زیاتے نۀ کوم. نو په فرض کښې او د دین په خبرو کښې ټول ضروری ارکان او اعمال راغلل. او د نفلو او سنتو ادا کول د خلاصی دپاره ضروری نۀ ده خو همیشه دپاره د سنتو پریخودل بد دی. او د داسے سړی ګواهی مقبوله نۀ وی خو هغه ګنهګاریدے نۀ شی. او خلاصے به ضرور مومی. او په دے حدیث کښې د حج ذکر نشته او په بعضے روایتونو کښې د روژے ذکر نۀ وی او په چا کښې د زکوٰة ذکر نۀ وی. قاضی عیاض ویلی دی چه د راویانو قصور دے. څنګه چه چا ته یاد شوے دے دغسے هغوی بیان کړے دے. او چونکه زیاتوالے د ثقه مقبول دے. نو ټول اعمال او ارکان کوم چه د ټولو روایتونو د لیدو نه معلوم شوی دی ضروری او ګرځیدل په بعضے روایتونو کښې بے تامُله د عزیزانو سره سلوک او محبت کول او د مال غنیمت نه پنځمه حصه ادا کول هم د اسلام په ارکانو کښې بیان کړی دی. او احتمال دے چه پیغمبر ﷺ د موقعے او محل لیدلو سره کوم ارکان چه د کوم قوم دپاره زیات ضروری وی هغه بیان کړی دی او ددے نه دا نۀ لازمیږی چه نور ارکان چه د هغے فرضیت هغوی ته معلوم شی خواه کۀ د مخکښې نه معلوم نۀ وو په خانے رانۀ وړی والله اعلم

وی[1]

بَاب السُّؤَالِ عَنْ أَرْكَانِ الْإِسْلَامِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ نُهِينَا أَنْ نَسْأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ فَكَانَ يُعْجِبُنَا أَنْ يَجِيءَ الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ الْعَاقِلُ فَيَسْأَلَهُ وَنَحْنُ نَسْمَعُ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَتَانَا رَسُولُكَ فَزَعَمَ لَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ اللهَ أَرْسَلَكَ قَالَ صَدَقَ قَالَ فَمَنْ خَلَقَ السَّمَاءَ قَالَ اللهُ قَالَ فَمَنْ خَلَقَ الْأَرْضَ قَالَ اللهُ قَالَ فَمَنْ نَصَبَ هٰذِهِ الْجِبَالَ وَجَعَلَ فِيهَا مَا جَعَلَ قَالَ اللهُ قَالَ فَبِالَّذِي خَلَقَ السَّمَاءَ وَخَلَقَ الْأَرْضَ وَنَصَبَ

باب: د اسلام د ارکانو د تپوسلو بیان

د انس بن مالکؓ نه روایت دے. موږ ته ممانعت شوے وو د رسول اللهﷺ نه د څۀ پوښتنے نو موږ ته ښۀ معلومیدۀ. چه د ځنګل د اوسیدونکو نه یو سړے راشي مګر پوهیدونکے وی ستا نه تپوس اوکړی او موږ واورو. نو د ځنګل د اوسیدنکو نه یو سړے راغے. او اووے ویل اے محمدؐ ستاسو قاصد ما ته راغے. او دائے اووے. حضرتؐ وائي چه الله زۀ رالیږلے یم حضرتؐ اوفرمایل. هغه قاصد ربښتیا وائي. هغۀ اووے نو آسمان چا پیدا کړے؟ حضرتؐ اوفرمائیل چه اسمان الله پاک پیدا کړے دے. بیا هغۀ اووے زمکه چا پیدا کړے ده؟ حضرتؐ اووے چه الله. بیا هغۀ اووے چه دا غرونه چا اودرولی دی؟ او په دے کښ چه کوم څیزونه دی هغه چا پیدا کړی دی؟ پیغمبرﷺ اوفرمایل چه الله. بیا هغه سړے اووے چه قسم د وی په هغه ذات چا چه اسمان پیدا کړے او زمکه ئے جوړه کړے ده او غرونه ئے

---

[1] په دے حدیث کښ حضرتﷺ قسم خوړلے د هغۀ د پلار حالانکه په دویم حدیث کښ دی چه کوم سړے قسم خوړل غواړی نو په خدائے پاک د قسم خوری. او په یو حدیث کښ دی چه الله تعالی منع کوی تاسو لره. د پلار نیکه د قسم خوړلونه. جواب د دے دا دے چه د حضرتﷺ دا فرمایل په طریقه د عادت او تکیه کلام وو. ولے چه د عربو خلق په خبرو کښ د دے قسم خوړل کوی نه په طور د حلف چه په هغے کښ تعظیم د چا د نوم مقصود وی. او مُشابه کول د دے د الله جل جلاله سره دغه جواب صحیح دے. او بعضو ویلی دی چه دا هغه وخت کیدے شو. هر کله چه د خدائے نه سوا د بل چا قسم خوړل منع نۀ وو صحیح دا دے چه قسم خوړل د الله نه سوا د دے د پاره منع دے چه د خدائے سره څوک بل برابر نۀ کړے شي. یعنی څنګه چه د خدائے د نوم عظمت اولوئی په زړه کښ ده داسے دِ دَ بل چا نۀ وی نۀ دِ د چا بل په نوم قسم پوره کول داسے لازم او ضروری اوګنړلے شی. لکه د خدائے د نوم قسم لره. بیا کۀ چرے چا بل څوک داسے لوئے او بزرګ او ګنړو لکه څنګه چه خدائے ګنړی. او د هغۀ قسم اوخوری. نو هغه سړے مشرک شو. او څوک چه ئے داسے اونۀ ګنړی صرف په طور د تکیه کلام یا د عادت په طور د لغو د چا قسم اوخوری نو هغه مشرک نۀ شو. مګر چونکه د مشرکانو د کارونو مشابه دے د دے نه هم پرهیز کول غوره دی. او دا مقصد دے د رسول اللهﷺ چه چا قسم اوخوړو بغیر د او خدائے نه په بل چا باندے هغۀ شرک اوکړو

هَذِهِ الْجِبَالَ آللهُ أَرْسَلَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُولُكَ أَنَّ عَلَيْنَا خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِنَا وَلَيْلَتِنَا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُولُكَ أَنَّ عَلَيْنَا زَكَاةً فِي أَمْوَالِنَا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُولُكَ أَنَّ عَلَيْنَا صَوْمَ شَهْرِ رَمَضَانَ فِي سَنَتِنَا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُولُكَ أَنَّ عَلَيْنَا حَجَّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ صَدَقَ قَالَ ثُمَّ وَلَّى قَالَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَزِيدُ عَلَيْهِنَّ وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُنَّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَئِنْ صَدَقَ لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ

اودرولی دی چه الله تعالی ته په حقیقت کښې رالیږلې ئے؟ پیغمبر اووے او. بیا هغه سړی اووے چه ستا سو قاصد وائی چه په مونږ باندے پنځه مونځونه فرض دی په هره شپه او په هره ورځ کښې. پیغمبر اووے رښتیا وائی هغه سړی اووے قسم دِ وی په هغه ذات چه چا ته رالیږلې ئے. ولے الله تا ته ددے مونځونو حکم کړے دے؟ پیغمبر اووے. آو. بیا هغه سړی اووے. چه ستاسو قاصد وائی چه په مونږ باندے زمونږ د مالونو زکوٰة دے. پیغمبر اووے هغه رښتیا وائی هغه سړی اووے قسم دے په هغه چه چا ته رالیږلې ئے. چه الله تا ته د زکوٰة حکم کړے دے؟ پیغمبر اوفرمائل آو. بیا هغه سړی اووے ستاسو قاصد وائی چه په مونږ بانڼے د رمضان روژے فرض دی په هر کال کښې. پیغمبر اوفرمایل هغه رښتیا وائی هغه سړی اووے قسم دے په هغه ذات چه چا ته رالیږلې ئے. الله تا ته ددے روژو حکم کړے دے؟ پیغمبر اوفرمایل. آو بیا هغه سړی اووے چه ستاسو قاصد وائی چه په مونږ باندے د بیت الله حج فرض دے چه څوک دلاړے د تلو طاقت لری (یعنی دلاړے او د سورلی خرچ ورسره وی او په لاره کښې امن وی) پیغمبر اوفرمایل رښتیا وائی. ددے په اوریدو سره هغه سړے واپس اوګرځیدو. او دائے ویل اولاړو. چه قسم په هغه ذات چا چه ته رښتونے پیغمبر رالیږلے ئے. زهٔ به ددے خبرونه نهٔ زیاتے کوم او نهٔ به کمے کوم رسول الله ﷺ اوفرمایل کهٔ چرے دا (اقرار) په رښتونی وی نو جنت ته به داخل شی[1].

[1] : الله جل جلاله فرمایلی دی يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ د آخره پورے. یعنی اے ایمان والاؤمه تپوسئ د یر خیزونه کهٔ چرے تاسو ته پس ښکاره شی نو په تاسو به بد اولګی. او کهٔ چرے تپوس کوئ په هغه وخت کښې چه قرآن نازلیږی نو پرانستے به شی. الله هغوی ته معافی کړے ده. او الله بخښنه کوی صبر کونکوته. داسے خبرے تپوسلی دی مخکښې ستاسو نه بیائے تپوس کړے او په دویمه ورځ ئے انکار کړے دے. یعنی دده نه تپوس مهٔ کوئ چه دا څیز روا دے یا نهٔ دے پس دا کار اوکړو کهٔ نهٔ

کوي بلکه چه څه نے درته اوفرمایل په هغے باندے عمل کوئ کوم چه نے او نه فرمایل هغه معاف ګنړئ دد ے دپاره چه دین آسان پاتے شی او چه د هرے خبرے جواب راشی نو دین به تنګ شی. بیا به عمل نه شی کولے. لکه څنګه چه ورمبو خلقو نه وو کړے. بیا د کفر رسمونه بنائی چه د تپوس حاجت نشته دے کوم چه الله نه دی فرمایلی هغه بے اصل دی. او په دے شان دے فاندو خبرو تپوس دے چا تپوس لوکړو چه خما پلار څوک وو یا خما ښځه په کور کښ په څه شان ده. کله چرے پیغمبر د هرے خبرے جواب درکړی. نو شاید چه بد جواب راشی او خفګان حاصل شی.موضح القرآن.په تفسیر فتح البیان فی مقاصد القرآن کښ امام عالی جاه مولانا سید محمد صدیق حسن خان بهادر لیکلی دی چه الله تعالی د ډیرو سوالونو کولو نه منع کړے ده. دد ے دپاره چه کله دے حاجته سوال کولو سره یو امر چه هغه واجب نه وو واجبیږی او بخاری او مسلم د حضرت انس نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ خطبه اولوستیه داسے چه چرته چا داسے خطبه نه وه اوریدلے یو سړی اووے خما پلار څوک وو. په دغه وخت دا آیات نازل شو. بخاری د ابن عباس نه هم داسے روایت کړے دے په یو روایت کښ دی چه هغه تپوس کونکے عبدالله بن حذافه وو هغه تپوس اوکړو خما پلار څوک دے. حضرت اوفرمایل ستا پلار حذافه دے ابن حبان د ابوهریره نه روایت کړےدے چه رسول الله ﷺ خطبه اولوسته او اوئے فرمائل چه الله په تاسو باندے حج فرض کړے دے یو سړے پاسیدو او اووے ویل چه ولے هر کال یا رسول الله پیغمبر چُپ پاتے شو. هغه سړی درے ځله دا تپوس اوکړو. هر کله چه نبی کریم ﷺ د خطبے نه فارغ شو نو وے فرمایل چه کچرے ما آو ویلے نو حج هر کال فرض کیدو بیا به تاسو ادا کولے نه شو کومه خبره چه زه بیان نه کړم تاسو هم هغے لره پریږدوئ یعنی تپوس نے مه کوئ دد ے دپاره چه ستاسو نه مخکښ خلق دد ے ډیرو تپوسونو په وجه او د خپلو پیغمبرانو سره د اختلاف کولو په وجه هلاک شوی دی هر کله چه زه تاسو لره د څه خبرے نه منع کړم نو د هغے نه ځان ساتئ او هر کله چه د څه خبرے حکم اوکړم نو هغے لره په ځانے کوئ د کومے پورے چه درنه کیدے شی او دا آیت په دے باب کښ نازل شو بخاری او مسلم د سعد بن ابی وقاص نه روایت کوی چه خلق د یو څیز پوښتنه کوی چه هغه حلال دی بیا تاسوتپوس کوئ چه هغه شے حرام شی نو هغے لره تپوسونه کول شروع کړی د ابن منذر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی د تولو نه لوئے ګناه په هغه مسلمان باندے ده چه هغه تپوس اوکړو د یو شی او هغه حرامه نه وو بیا دهغه په تپوس کولو سره حرام شو او ابن جریر او ابن منذر او حاکم د ابو ثعلبه خشنی نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالی حدونه ټرلی دی بیا دد ے نه وړاندے مه ځئ او فرض ئے ښودلی دی هغے لره ادا کوئ او حرام کړی چه ئے دی کومو څیزونو لره هغه مه کوئ او کومے خبرے چه ئے نه دی بیان کړی هغه هیرے نه دی بلکه رحمت دے د هغه په تاسو باندے نو چپ پاتے شئ او د هغے بحث مه کوئ یعنی هم دغسے ئے پریږدئ.انتهی. اګر چه دا ممانعت دد ے بے فاندے سوال کولو نه او د بے کاره څیزونو د تپوس کولو نه وو او دا مطلب د حضرت ﷺ نه وو چه خلق د ایمان خبرے یا ضروری ددین د کار تپوس د نه کوی ولے چه دد ے خبرو د ښودنے دپاره خو پخپله حضرت ﷺ رالیږلے شوے وو خو صحابه پریدل پریدل بعضے وخت به ئے د تپوس کولو د خبرے هم تپوس نه کوو او په دے انتظار کښ به اوسیدل چه څوک نوے ناخبره سړے راشی او هغه تپوس اوکړی نو مونږ به ئے هم واورو او خپل ځان به پرے پوهه کړو ورمبے دغه سړی د خدائے په باره کښ تپوس اوکړو بیائے د رسالت تصدیق اوکړو پس دد ے نه ئے د اعمال تپوس اوکړو. دا ترتیب ډیر ښۀ دے. او دا یوه پوره قرینه ده دد ے خبرے چه هغه تپوس کونکے اګر چه ځنګلی وو خو د عقل خاوند او پوهیدونکے وو ابن الصلاح وائی چه په دے حدیث کښ دلیل دے د هغه خلقو دپاره چه د مقلدینو عوامو ایمان صحیح ګنړی دد ے دپاره چه عوامو نه هم یقین حاصلیږی او شک او تذبذب نه پاتے کیږی په خلاف د مُعتزله چه هغه د مقلد ایمان صحیح نه ګنړی او دا حدیث حجت دے په هغوی باندے ولے چه تاسو د هغوی ایمان جائز اوساتو او دائے او نه وے چه تالره دد ے خبرو باندے د یقین کولو دپاره دلیل لو د هغه په مضبوط والی باندے اعتماد نه شی کیدے. دد ے دپاره چه هغه بغیر د دلیل نه د یو سړی خبره منلے ده بیا کله څوک دویم

بَابُ بَيَانِ الْإِيمَانِ الَّذِي يَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ وَأَنَّ مَنْ تَمَسَّكَ بِمَا أُمِرَ بِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّ أَعْرَابِيًّا عَرَضَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي سَفَرٍ فَأَخَذَ بِخِطَامِ نَاقَتِهِ أَوْ بِزِمَامِهَا ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَوْ يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي بِمَا يُقَرِّبُنِي مِنَ الْجَنَّةِ وَمَا يُبَاعِدُنِي مِنَ النَّارِ قَالَ فَكَفَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَظَرَ فِي أَصْحَابِهِ ثُمَّ قَالَ لَقَدْ وُفِّقَ أَوْ لَقَدْ هُدِيَ قَالَ كَيْفَ قُلْتَ قَالَ فَأَعَادَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ

باب د هغه ایمان بیان چه په هغے سره سړے جنت ته داخلیږی او بیان د دے خبرے چه حکم په ځائے راوړونکے به جنت ته داخلیږی

د ابو ایوب خالد بن زید انصاری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په سفر کښ روان وو. په دے کښ یو خنګلی راغے او د حضرت ﷺ د اوښے رسئ با واګه ئے اونیوه او اوئے ویل یا رسول الله ﷺ یا یا محمد ﷺ ما ته هغه څیز اوښایه چه هغه ما جنت ته نژدے او د جهنم نه لرے کړی حضرت ﷺ د دے اوریدو سره اودریدو او د خپلو اصحابو په طرف ئے اوکتل او بیانے اوفرمایل دهٔ لره توفیق ورکړے شو یا هدایت ورته اوکړے شو (یعنی خدائے د دهٔ مدد اوکړو او د دے خبرے د تپوس کولو طاقت ئے ورکړو توفیق وائی د نیکے خبرے قدرت ورکولو ته او خُذلان د بدے خبرے قدرت ورکولو ته وائی) حضرت ﷺ (هغه خنګلی ته) اوفرمایل تا څهٔ اووے؟ هغه بیا هغه خبره اووے (یعنی ما ته هغه خبره اوښایه چه جنت ته م نژدے کړی او د جهنم نه لرے) بیا رسول

په دے کښ شک او غورخوی نو د دهٔ اعتقاد واپس کیږی. د دے جواب دا دے چه د کومے پورے دهٔ ته شک پیدا شوے نهٔ وی د هغه وخته پورے خو د دهٔ ایمان صحیح دے ولے چه هغه برابر دے د محقق د ایمان چه هغه په دلائلو کښ غور کړے او حاصل کړے ئے دے اُوس مقلب القلوب خدائے پاک عزوجل دے. هغه چه غواړی نو په ایمان باندے ئے ثابت ساتی. او چه هغه او غواړی نو اوئے لرزه وی لوئے لوئے محقق په وسوسو کښ پریوتی او ګمراه شوی دی. او مقلّد کامیاب شوی دی. اګر چه په دے کښ شک نشته چه اعلی درجه د تحقیق ده او د کومے پورے چه تحقیق ممکن وی د تقلید په لار تلل غوره نهٔ دی. نه په تقلید کښ څهٔ حلاوت او مزه ده خو دے مزے لره هغه ګنړلے شی چه محقّق وی امام نووی وائی چه د دے حدیث نه دا خبره اوځی چه د یو سړی خبر معتبر دے او په هغے باندے عمل کول پکار دی ځکه چه حضرت ﷺ د دین د خبرو د ښودلو دپاره یو قاصد لیږلے وو. او دا سړے چه کوم راغلے وو د دهٔ نوم ضمام بن ثعلبه وو قاضی عیاض ویلی دی ښکاره داده چه دا سړے مسلمان شوے راغلے وو مګر د اسلام خبرو لره ئے په ښهٔ شان د تحقیق کولو دپاره ئے پخپله د حضرت ﷺ نه تپوس اوکړو. حاکم ابو عبد الله په کتاب المعرفه کښ ویلی دی چه دا حدیث د دے خبرے دلیل دے چه علو اسناد طلب کول جائز دی ولے چه دغه سړی ورمبئ تولے خبرے د دین د قاصد په واسطه اوریدلے وے بیا په دے واسطه پخپله د حضرت ﷺ نه د اوریدو دپاره راغلے

شَيْئًا وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصِلُ الرَّحِمَ دَعْ النَّاقَةَ

الله ﷺ اوفرمایل چه د الله عبادت کوه او د هغه سره چا لره شریک مهٔ گرځوه. او مونځ ادا کوه او زکوٰة ورکوه. او صله رحمي کوه یعني د عزیزانو رشته دارانو سره ښهٔ سلوک کوه. کهٔ هغه بد کوی او ترک ملاقات کوی خو تهٔ نیکي کوه. او د هغو سره ملاوېږه. پرېږدوه اوښې لره ولې چه اوس ستا کار اوشو[1]

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْنِينِي مِنَ الْجَنَّةِ وَيُبَاعِدُنِي مِنَ النَّارِ قَالَ تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصِلُ ذَا رَحِمِكَ فَلَمَّا أَدْبَرَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ تَمَسَّكَ بِمَا أُمِرَ بِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ أَبِي شَيْبَةَ إِنْ تَمَسَّكَ بِهِ

د ابو ایوبؓ نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ ته راغے. او ورته نے اووے چه ماته داسے کار اوښایه چه هغه ما جنت ته نزدے او د جهنم نه لرے کړی. حضرتؐ اوفرمایل هغه کار دا دے چه تهٔ د الله پاک عبادت کوه. او چا لره د هغه سره شریک مهٔ جوړوه. او مونځ قایم کړه. او زکوٰة ورکوه. او صله رحمي کوه. هر کله چه د هغه شا شوه او لاړو. نو حضرتؐ اوفرمایل کهٔ چرے دے په هغه خبرو باندے اوچلیدو د کومو چه حکم شوے دے. یا چه ما ورته د هغے حکم اوکړو. نو جنت ته به داخل شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ أَعْرَابِيًّا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَالَ تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومُ رَمَضَانَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا شَيْئًا أَبَدًا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ فَلَمَّا وَلَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه یو اعرابی (د باندے اوسیدونکے) رسول الله ﷺ ته راغے او دا نے اووے یا رسول اللهؐ ما ته یو داسے کار اوښایه چه د هغے په کولو سره زهٔ جنت ته لاړشمه حضرت ﷺ اوفرمائل هغه کار دا دے چه عبادت کوه د الله پاک او د هغهٔ سره شریک مهٔ گرځوه. او قایم کړه مانځهٔ لره په خپل خپل وخت سره. اوورکوه زکوٰة لره چه فرض دے. او د رمضان روژے ساته هغه سړی اووے قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې ځما روح دے. چه زهٔ به نهٔ د دے نه زیات کړم او نهٔ به

[1] د دے حدیث نه دا خبره معلومیږی چه په روانه روانه کښې یو سړے د دین د خبرے تپوس اوکړی نو اودریدل او هغهٔ ته ښودل پکا ردی او د دین د خبرے په ښودلو کښې د علم سره سستی کول بده خبره ده. په حدیث شریف کښې راغلی دی چه څوک چُپ پاتے شو د حق په خبره کښې هغه گونگے شیطان دے

وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا

كم بيا هغه واپس اوګرځيدو او لاړو. حضرت ﷺ اوفرمايل چه كوم سړے په دے خبره خوشحاليږي چه زۀ د جنتي لره اووينم نو دۀ ته د ګورى ځكه چه دا جنتى دے[1].

بَابُ مَنْ قَامَ عَلَى الْإِيمَانِ وَالشَّرَائِعِ دَخَلَ الْجَنَّةَ

باب: د ايمان او شريعت پابند به جنت ته داخل شي

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النُّعْمَانُ بْنُ قَوْقَلٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِذَا صَلَّيْتُ الْمَكْتُوبَةَ وَحَرَّمْتُ الْحَرَامَ وَأَحْلَلْتُ الْحَلَالَ أَأَدْخُلُ الْجَنَّةَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ

د حضرت جابرؓ نه روايت دے چه نعمان بن قوقل رسول الله ﷺ له راغے. او عرض ئے اوكړو يا رسول الله! كۀ چرے زۀ فرض مونځ ادا كړم. او حرامو لره حرام اوګنړم (او ځان تر اوساتم) او حلال حلال اوګنړم (اګر چه هغے لره نۀ كوم) نو زۀ به جنت ته لاړ شم؟ حضرت ﷺ اوفرمايل. آو.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَرَأَيْتَ إِذَا صَلَّيْتُ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ وَصُمْتُ رَمَضَانَ وَأَحْلَلْتُ الْحَلَالَ وَحَرَّمْتُ الْحَرَامَ وَلَمْ أَزِدْ عَلَى ذٰلِكَ شَيْئًا أَأَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَاللهِ لَا أَزِيدُ عَلَى ذٰلِكَ شَيْئًا

د حضرت جابرؓ نه روايت دے. چه يو سړى د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو چه كۀ چرے زۀ فرض مونځ ادا كوم. او د رمضان روژے نيسم. او حلال حلال اوګنړم. او حرام حرام اوګنړم. او د دے نه زيات څۀ نۀ كوم. نو جنت ته به لاړ شم؟ حضرت ﷺ اوفرمايل. آو. هغه سړى اووے په خدائے م د قسم وى. چه زۀ به زيات د دے نه هيڅ نۀ كوم.

بَابُ بَيَانِ أَرْكَانِ الْإِسْلَامِ وَدَعَائِمِهِ الْعِظَامِ

باب: د اسلام د لويو اركانو او ستنو بيان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسَةٍ عَلَى

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه هغوئ د نبى كريم ﷺ نه اوريدلى دى چه هغه فرمايلى دى اسلام جوړ كړے شوے دے. په پنځو څيزونو

[1] شايد الله عزوجل حضرت ﷺ لره خبر كړے دے چه دا سړے به ضرور جنت ته ځى. ولے چه دے دا كارونه په ځانے راوړى. او هميشه ئے كوى. تر دے پورے چه د دۀ خاتمه به په خير شى.

أَنْ يُوَحَّدَ اللهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ وَالْحَجِّ فَقَالَ رَجُلٌ الْحَجِّ وَصِيَامُ رَمَضَانَ قَالَ لَا صِيَامُ رَمَضَانَ وَالْحَجُّ هٰكَذَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بانده یعنی په پنځو ستنو بانده اسلام ولاړ دے (دا تشبیه ده چه اسلام د یو کور مانند اوګڼړه یا د یو چهت چه په هغې کښې پنځه ستنې وی) د الله جل جلاله توحید مونځ قائمول، زکوٰة ورکول، د رمضان روژے نیول، حج کول، یو سړی اووے حج او د رمضان روژے (یعنی حج ئے ورمبے کړو او روژے ئے ورسته) ابن عمر اووے د رمضان روژے او حج ما د رسول الله ﷺ نه دغسے اوریدلی دی[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ عَلَى أَنْ يُعْبَدَ اللهُ وَيُكْفَرَ بِمَا دُونَهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَحَجِّ الْبَيْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه اسلام په پنځو ستنو بانده ولاړ دے. یوه دا چه د الله عبادت اوکړے شی او د هغه نه سوا (د ټولو دروغو د خدایانو نه) انکار اوکړے شی دویم مونځ کول، دریم زکوٰة ورکول. څلورم د بیت الله حج کول، پنځم د رمضان روژے نیول.

---

[1] مګر دویم روایت پخپله د ابن عمر نه په تقدیم د حج روایت دے بیا هغوی په دغه سړے بانده څنګه انکار اوکړو ددے جواب علماؤ داسے ورکړے دے چه هغوی به دا حدیث د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وی یو خل په تقدیم د روژے او یو خل په تقدیم د حج بیا ئے ددغه سړی په وړاندے هغه روایت نقل کړو چه هغه په تقدیم صوم وو هر کله چه هغه حج لره وړاندے کړو نو ابن عمر په دے بانده انکار اوکړو چه ته په دے خبره څه پوهه ئے چه حضرت ﷺ داسے فرمایلی په تقدیم صوم او ددے نه دا خبره نه شی وتلے چه هغوی په دویمه طریقه سره دا روایت نه دے اوریدلے او احتمال دے چه ابن عمر دغه وخت د حج په تقدیم روایت لره هیر کړے وی ددے دپاره هغوی انکار اوکړو بیا ورته را یاد شو نو دے لره ئے روایت کړو حافظ بن الصلاح وائی د ابن عمر محافظت په دے ترتیب سره دلالت کړے دے په دے خبره بانده چه واؤ د عربو په کلام کښې د ترتیب دپاره راځی او دا مذهب دے د ډیرو فقهاؤ شافعیه اود بعضے نحویانو لیکن کوم خلق چه د واو نه ترتیب نه اوباسی؛ لکه چه د جمهورو قول دے او دغه مختار دے هغه وائی چه د ابن عمر دا انکار ددے دپاره نه وو چه واؤ ترتیب لره مقتضی دے. بلکه ددے دپاره چه د رمضان روژے په ۲ ھ کښې فرض شوی دی او حج په ۶ ھ کښې فرض شوے دے نو روژے لره ورمبی ذکر کول مناسب دی بیا د تقدیم حج روایت بالمعنی دے او په دے کښې د تقدیم او د تاخیر نه تصرف شوے دے نووی ویلی دی د ابن الصلاح دا تقریر مسلم نه دے ولے چه دواړه روایتونه صحیح دی او په دواړو کښې منافات نشته دے او ددے قسم احتمال په روایت کښې بے فائدے قدح پیدا کوی او ابوعوانه اسفرائنی په کتاب مخرج علی صحیح مسلم کښې انکار د ابن عمر د صیام په تقدیم بانده نقل کړے دے او دا د مسلم د روایت برعکس دے لیکن ابن الصلاح ویلی دی چه دا روایت د مسلم د روایت مقابله نه شی کولے نووی ویلی دی احتمال دے چه دا صحیح وی او شاید دا واقعه دوباره مخے ته راغلی وی والله اعلم (نووی)

عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ عَبْدُاللّٰهِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكٰوةِ وَحَجِّ الْبَيْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی اسلام جوړ شوے دے په پنځو خبرو باندے. یو خو ګواهي ورکول دد ے خبرے چه نشته دے معبود برحق سوا د خدائے نه او حضرت محمد ﷺ د هغهٔ بنده او رالیږلے شوے رسول دے. دویم مونځ قائمول او دریم زکوٰة ورکول څلورم د خانه کعبے حج کول پنځم د رمضان روژے نیول.

عَنْ طَاوُسٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَلَا تَغْزُو فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْإِسْلَامَ بُنِيَ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكٰوةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ وَحَجِّ الْبَيْتِ

د طاؤس نه روایت دے چه عبد الله بن عمرؓ ته یو سړی اووے ته جهاد ولے نه کوے؟ هغهٔ اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی چه فرمایلی ئے دی. د اسلام پنځهٔ ستنے دی. یو خو ګواهي ورکول دد ے خبرے چه څوک معبود نشته ما سوا د خدائے پاک نه، دویم مونځ کول، دریم زکوٰة ورکول څلورم د رمضان روژے نیول، پنځم د خانه کعبے حج کول[1].

بَابُ الْأَمْرِ بِالْإِيمَانِ بِاللّٰهِ تَعَالٰى وَرَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَرَائِعِ الدِّينِ وَالدُّعَاءِ إِلَيْهِ وَالسُّؤَالِ عَنْهُ وَحِفْظِهِ وَتَبْلِيغِهِ مَنْ لَمْ يَبْلُغْهُ

باب: په الله او رسول او په دینی احکامو باندے د ایمان راوړو حکم کول او د هغے طرفته رابلل د دین د خبرو تپوس کول یاد ساتل او نورو له پیژندل

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه د عبد القیس وفد رسول الله ﷺ له راغے او

[1] او جهاد دد ے قسم رکن نهٔ دے. چه هر مسلمان ته دد ے کول ضروری دی. بلکه جهاد فرضِ کفایه دے کهٔ چرے بعضو اوکړو نو د تولو د طرفنه لزوم ختم شو. البته کهٔ څوک ئے هم اونهٔ کړی نو تول نه تول به ګنهګار شی. دا هغه وخت دے چه هر کله په جهاد کښ د تولو مسلمانانو د شریک کیدو ضرورت نهٔ وی. او کوم جماعت چه جهاد کوی هغه د دشمن د مقابلے دپاره پوره وی او هر کله چه کافر په جمع سره راشی او جهاد کونکی د هغوی د مقابلے نه عاجز شی. نو دغه وخت په تولو باندے جهاد فرض کیږی او ظاهره ده چه ابن عمر د رسول الله ﷺ سره په جهاد کښ شریک شوے وو. بیا دا واقعه هغه وخت کیدے شی چه هر کله هغه بوډا وو. یا د بل څهٔ عذر سره په هغه کښ د جهاد د تلو طاقت نهٔ وو. یا د هغه فتنے وخت کیدے شی چه پخپله مسلمان د یو بل سره جنګیدو په داسے وخت کښ خو په کور کیناستل ډیر غوره وی

الْقَيْسِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا هَذَا الْحَيَّ مِنْ رَبِيعَةَ وَقَدْ حَالَتْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ كُفَّارُ مُضَرَ فَلَا نَخْلُصُ إِلَيْكَ إِلَّا فِي شَهْرِ الْحَرَامِ فَمُرْنَا بِأَمْرٍ نَعْمَلُ بِهِ وَنَدْعُو إِلَيْهِ مَنْ وَرَاءَنَا قَالَ آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ الْإِيمَانِ بِاللهِ ثُمَّ فَسَّرَهَا لَهُمْ فَقَالَ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَأَنْ تُؤَدُّوا خُمُسَ مَا غَنِمْتُمْ وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُقَيَّرِ زَادَ خَلَفٌ فِي رِوَايَتِهِ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَعَقَدَ وَاحِدَةً

اوونيل. يا رسول الله ﷺ مونږ د ربيعه د قبيلے نه يو او زمونږه او ستاسو په مينځ كښې مُضر كفار مانع دے مضر هم د يوے قبيلے نوم دے. د دے خلق كافران وو. او هغه دعبد القيس او مدينے په مينځ كښې اوسيدل او د عبد القيس خلقو لره مدينے راتلو ته ئے نه پريخودل او مونږ ستا پورے نه شو راتلے. مگر په حرامو مياشتو كښې (د عربو په نز څلور مياشتے حرامے دی. يعنی خالی ، ذالحجه او محرم او بزرگه يعنی رجب مياشت په دے كښې هغه لوټ مار نه كوی او مسافر نه تنگوی په دے وجه سره په دے مياشتو كښې به مسافرو سفر كوو او بے تكليف به په لار تلل نو مونږ ته يو داسے خبره او ښايه چه په هغے مونږ عمل اوكړو او د خپل طرفه خلق هم دے طرفته رااوغواړو. حضرت ﷺ اوفرمايل زهٔ تاسو ته حكم كوم د څلورو خبرو او منع كوم تاسو د څلور خبرونه بيائے بيان اوكړو چه حكم كوم تاسو ته چه گواهی وركړئ د دے خبرے چه نشته دے معبودِ برحق سوا د خدائے پاك نه او حضرت محمد ﷺ د هغهٔ راليږلے شوے رسول دے. او مونځ كوه او زكوٰة وركوه. او منع كوم تاسو د دبّاء نه يعنی د تريخ كدو ډول او حنتم نه او نقير نه يعنی د چوبی لوښی نه يو لرگے واخلی او هغه اوكنی او ډوغل شان تر جوړ كړی او د مقير نه خلف بن هشام خپل روايت كښې دومره زياته كړه چه گواهی وركړه د دے خبرے چه څوك رښتونے معبود نشته سوا د الله نه او اشاره اوكړ هغه په گوته سره د يو[1].

[1] وفد وانی هغه خلقو ته چه هغه د يو جماعت يا قوم د طرفنه منتخب شی او اوليږلے شی. د څهٔ ضروری كار په واسطه د بادشاه يا د وزير يا د څهٔ سردار د طرفنه. او عبد القيس د يو سړی نوم دے. چه د هغهٔ اولاد ته بنی عبد القيس وائی.. او دا يو شاخ دے د ربيعه چه يوه لويه قبيله وه په عربو كښې. دا خلق رسول الله ﷺ له څوارلس سوارهٔ راغلی وو. چه د هغو سردار اشج عصری وو. او په دے خلقو كښې مزيده بن مالك مهاربی، او عبيده بن حمام محاربی، او صحار بن عباس مری، او عمرو بن محروم عصری، او حارث بن شعيب.

عصري. او حارث بن جندب موجود وو او د باقي خلقو نومونه معلوم نهٔ دي او دد ے خلقود راتلو دا سبب وو چه منقذبن حيان يو سړے وو چه اکثر به مدينے منورے ته د تجارت دپاره راتلو. د جاهليت په زمانه كښې يو خل هغه څادرے او كهجورے د حجر نه (حجر د يو كلي نوم دے) مدينے منورے ته راوړلے. دغه وخت رسول الله ﷺ مدينے ته د مكے نه هجرت كړے وو منقذ په لاره كښې ناست وو چه رسول الله ﷺ په هغه طرف راغے. منقذ د حضرت ﷺ په ليدو سره پاسيدو اودريدو. حضرت ﷺ ورته اوفرمايل منقذه! ستا د قوم د تولو خلقو څهٔ حال دے؟ بيا حضرت ﷺ د هغه د قوم د لويو لويو ته د هريو نوم واخستو منقذ چه دا معجزه اوليده نو حيران شو او په دغه وخت ئے اسلام قبول كړو او سورة فاتحه او اقرأ ايزده كړو. بيا د هجر په طرف روان شو. رسول الله ﷺ هغه ته يو خط د عبد القيس د خلقو دپاره وركړو دغه خط منقذ د عبد القيس خلقو ته ورنه كړو او د خان سره ئے پټ اوساتو. يو خل د منقذ ښځه چه د اشج عصر لوره وه ا اشج نوم منذربن ائذ وو ليكن رسول الله ﷺ د هغهٔ نوم اشج ايخودے وو(ولے چه د هغهٔ په تندي كښې د زخم نخښه وه) هغے خپل خاوند لره په مانځهٔ او قرآن لوستو اوليدو. او خپل پلار منذر ته ئے د هغے ذكر اوكړو او دائے اووے چه خما خاوند هر كله چه د مدينے نه واپس راغلے دے څهٔ عجيب حال ئے جوړ شوے دے. لاس او خپے وينځي بيا يو طرفته (يعني د قبلے طرفته) مخ كړي كله ملا يعني شا ښكته كوي(ركوع) كله په زمكه باندے خان غورخوي(سجده) هركله چه منذر د هغے د خاوند سره ملاو شو او د دواړو خبرے او شوے نو د اشج په زړهٔ كښې د اسلام خيال كلك شو. او د رسول الله ﷺ هغهٔ خط ئے راواخستو او د خپل قوم خواله راغے او هغه خط ئے ورته واؤرَوو د هغوي تولو زړهٔ د اسلام طرفته مائل شو. او هغوي يو جماعت د رسول الله ﷺ په طرف روان كړو او اشج ئے د هغے سردار كړو هر كله چه هغوي مدينے ته نژدے راورسيدل نو رسول الله ﷺ صحابو ته اوفرمايل ستاسو خواله د عبد القيس خلق راروان دي چه هغه په يورپ والو كښې د تولو نه بهترين دي او په هغوي كښې اشج هم دے او هغه خلق واپس كيدونكي نهٔ دي او نهٔ شك كونكي دي په دويم روايت كښې پنځهٔ خبرے ذكر دي څلور خو دادي (توحيد او رسالت، مونځ او روژه ، زكوٰة ، او د مالِ غنيمت نه د پنځمے حصے ادائيگي)او د بخاري په روايت كښې هم پنځهٔ خبرے دي. په دے مقام باندے دا شكايت دے چه حضرت ﷺ څلور خبرے فرمايلي دي او ذكر شو پنځو لره. علماؤ دد ے جواب په څو طريقے سره وركړے دے. د تولو نه ظاهر هغه دے كوم چه ابن ابطال ويلي دي چه اصل مقصد څلور خبرے وے. يعني توحيد ، او مونځ ، روژه ، او زكوٰة. مگر يوه خبره د غنيمت د پنځمے حصے ئے زياته اوښوده دد ے دپاره چه هغه خلق كفارِ مضر ته نژدے اوسيدل او هغوي ته به جهاد كول پريوتل او غنيمتونه به ورته ملاويدل او ابن الصلاح ويلي دي د وَأَنْ تُؤَدُّوْ عطف په شَهَادَةُ أَنْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ باندے نهٔ دے. چه پنځهٔ خبرے د وي. بلكه په څلور باندے دے. نو مطلب دا شو چه تاسو ته حكم كوم د څلورو خبرو او د يوے خبرے بلے. فرمايلي ئے دي چه زهٔ تاسو لره منع كوم د دباء (د وُچ شوي كدو دوغل شوے دده) نه او د حنتمه (روغني منگے) نه. د حنتم په تفسير كښې د علماؤ څو اقوال دي صحيح دادے چه حنتم واني شنولاكهي منگو ته او دا تفسير په خپله په صحيح مسلم كښې په كتاب الاشربه كښې د ابو هريره نه منقول دے او دا قول دے د عبد الله بن مغفل او د اكثرو خاوندانو د لُغت او بعضو ويلي دي چه حنتم هر يو منگي ته ويلے شي دا د عبد الله بن عمر او سعيد بن جُبير او د ابوسلمه قول دے او بعضو ويلي دي چه حنتم يو قسم منگي دي چه د مصر نه راخي او هغه روغني وي او دا د انس بن مالك او ابن ابي ليلى نه منقول دے هغوي واني چه هغه سره وي بعضو ويلي دي چه حنتم د سور رنگ منگي دي او په دے كښې به د مصر نه شراب راؤړے شول دا د حضرت عائشے نه منقول دے. او ابن ابي ليلى واني چه د طائف نه به په دے كښې شراب راتلل او څهٔ خلقو به په دے كښې نبيذ جوړول بعضو ويلي دي چه حنتم هغه منگي دي چه هغه د خاؤرے او وينبتو او د وينے نه جوړيږي او دا د عطاء نه منقول دے (نووي) (فرمائيلي دي زهٔ تاسو د مقير نه منع كوم) مقير د قار نه وتلے دے. يعني په كوم لوخي باندے چه قار اولگولے شي قار زفت ته وايي كيږي او بعضو ويلي دي زفت يو قسم سند سره منقول دے چه مزفت او مقير يو څيز دے او قار او رفت ته په هندي

عَنْ أَبِي جَمْرَةَ قَالَ كُنْتُ أُتَرْجِمُ بَيْنَ يَدَيِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَبَيْنَ النَّاسِ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ تَسْأَلُهُ عَنْ نَبِيذِ الْجَرِّ فَقَالَ إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ الْوَفْدُ أَوْ مَنِ الْقَوْمُ قَالُوا رَبِيعَةُ قَالَ مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ أَوْ بِالْوَفْدِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا النَّدَامَى قَالَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نَأْتِيكَ مِنْ شُقَّةٍ بَعِيدَةٍ وَإِنَّ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الْحَيَّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ وَإِنَّا لَا نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيَكَ إِلَّا فِي شَهْرِ الْحَرَامِ فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرْ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا نَدْخُلْ بِهِ الْجَنَّةَ قَالَ فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ قَالَ أَمَرَهُمْ بِالْإِيمَانِ بِاللهِ وَحْدَهُ

د ابوجمره (نصر بن عمران) نه روایت دے چه زهٔ د ابن عباس ؓ په وړاندے د هغوی او د نورو خلقو په مینځ کښې مترجم وم (یعنی د نورو خبرے به م په عربئ کښې ترجمه کولے او ابن عباس ؓ به م پرے پوهه کولو) چه په دے کښې یوه ښځه راغله چه تپوس ئے کوو د منګی د نبیذ په باره کښې نو ابن عباس ؓ ورته اووے چه د عبد القیس وفد (د وفد معنٰی مخکښې شوے ده) رسول الله ﷺ له راغے حضرت ﷺ تپوس اوکړو چه دا وفد څوک دی؟ یا دا د کوم قوم خلق دی؟ خلقو اووے د ربیعه خلق دی. حضرت ﷺ اوفرمایل مرحبا دوی قوم یا وفد لره چه هغه نهٔ رسوا شول نهٔ شرمنده (ولے چه پخپله بغیر د جنګ نه راغلل او مسلمانان شو، کچرے د جنګ نه پس مسلمانان شوے وے نو رسوا شوی به وو. وینځے او غلامان به تر نه جوړ شوی وو. مال به ئے لوټ کیدو نو شرمنده کیدل به) هغه خلقو اووے یا رسول الله ﷺ مونږ تا ته په ډیر اوږد سفر سره راغلی یو. زمونږ او ستاسو په مینځ کښې د مضر کافرانو قبیله ده نو مونږ ستا پورے نهٔ شو راتلے. مګر د حرام په میاشت کښې (هر کله چه لوټ مار نهٔ شی کیدے) د دے د پاره مونږ ته حکم اوکړه د یوے صفا خبرے. چه هغه مونږ نورو خلقو ته هم اوښایو او د هغے په سبب سره جنت ته

کښې رال ویلی شی دا چه کوم دد ے څلور قسمه لوخونه ممانعت اوکړو دد ے غرض دا دے چه په دے لوخو کښې شربت مهٔ جوړوئ یعنی کهجوره او انګور په کښې مهٔ مږئ دد ے د پاره چه په دے لوخو کښې شراب تیاریدے شول او نشه په دے کښې زر پیدا کیږی او په خرمن کښې د شربت د جوړولو ممانعت نشته دے ولے چه خرمن نرمه ده. او په دے کښې نشے والا څیز نهٔ شی تکیدے. بلکه اکثر خرمن په تیزو شرابو سره خودلے شی. او دا ممانعت هم په اولو ورځو د اسلام کښې وو. بیا د بریده په حدیث سره منسوخ شو په هغے کښې دا دے چه ما تاسو لره منع کړی وو د شربت د جوړولو نه. سوا د خرمن نه په نورو لوخو کښې. لیکن اوس خوروئ په هر لوخی کښې او مهٔ څکوئ هغه شرابو لره چه هغه نشه کوی روایت کړے دے دے لره مسلم او دا د جمهورو علماؤ قول دے. او خطابی ویلی دی چه ممانعت منسوخ شوے دے او د علماؤ یو جماعت دے ممانعت لره قائم ساتلے دے او دا قول د مالک ؒ او احمد ؒ او د اسحق ؒ دے او دا منقول دے د عمر او بن عباس نه (نووی)

وَقَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ بِاللهِ قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَإِقَامُ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ وَصَوْمُ رَمَضَانَ وَأَنْ تُؤَدُّوا خُمُسًا مِنَ الْمَغْنَمِ وَنَهَاهُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ شُعْبَةُ وَرُبَّمَا قَالَ النَّقِيرِ قَالَ شُعْبَةُ وَرُبَّمَا قَالَ الْمُقَيَّرِ وَقَالَ احْفَظُوهُ وَأَخْبِرُوا بِهِ مِنْ وَرَائِكُمْ و قَالَ أَبُو بَكْرٍ فِي رِوَايَتِهِ مَنْ وَرَاءَكُمْ وَلَيْسَ فِي رِوَايَتِهِ الْمُقَيَّرِ

لاړ شو. حضرتﷺ ورته د څلورو خبرو حکم اوکړو او د څلور خبرو نه ئې منع کړل هغوی ته ئې حکم اوکړو د الله په توحید باندے د ایمان راوړلو. او د هغوی نه ئې تپوس اوکړو چه تاسو پیژنئ چه ایمان څۀ دے؟ هغوی اووے الله او د هغۀ رسول ئې ښۀ پیژنی . حضرتﷺ ورته اوفرمایل ایمان ګواهی ورکول دی د دے خبرے چه سوا د خدائے پاک نه څوک د عبادت لائق نشته دے او بیشکه محمدﷺ د هغۀ رالیږلے شوے رسول دے. او مونځ قائمول او زکوة ورکول او د رمضان روژے نیول (دا څلور خبرے شوے اوس یوه پنځمه خبره بله ده) او د غنیمت په مال کښې د پنځمے حصے ادا کول (یعنی د کافرانو په لوټ کښې چه کوم مال ملاؤ شی د هغے نه پنځمه حصه د خدائے او د رسولﷺ د پاره وبیستل) او منع ئې کړل هغوی لره د کدو د پټ د کچکول نه او د شین لاکهی کهړو او روغنی لوخو نه شعبه کله داسے ویلی او د نقیر نه وکله ئې ویل د مقیر نه (د دواړو معنے وړاندے تیرے شوے دی) او اوئې فرمایل دے لره یاد ساتئ او د دے خبرو هغه خلقو ته هم خبر ورکړئ کوم چه ستاسو نه ورسته دی او ابوبکر ابن ابی شیبه د مِنْ وَّرَآءِكُمْ په بدل کښې مَنْ وَّرَآءَكُمْ اووے (او مطلب د دواړو یو دے) او د هغۀ په روایت کښې د مقیر ذکر نشته دے[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

دویم روایت هم د ابن عباسؓ نه په دے شان دے. په هغے کښې دا دی چه

[1] یو بنځے د نبیذ د منګی په باره کښې تپوس کړے وو. یعنی د خاورے په وړوکی څُم یا بلتونی یا په منګی کښې چه د کجهورو یا د انګورو شربت جوړ کړے شی د هغے څکل څنګه دی؟ امام نوویؒ وائی په دے کښې دلیل دے د دے خبرے چه ښځه د ناشنا او نابلده غیر سړو سره خبرے کولے شی. او د هغو آواز اوریدے شی. او هغه ښځه هم د دوی آواز د ضرورت په وخت د حاجت په وخت اوریدے شی مرحبًا یوه کلمه ده چه د عربو خلق ئې د ملاقات د پاره وائی یعنی څوک چه د ملاویدو د پاره راشی. د دے مطلب دا دے چه ته ښۀ خائے ته راغلے

وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ نَحْوَ حَدِيْثِ شُعْبَةَ وَقَالَ أَنْهَاكُمْ عَمَّا يُنْبَذُ فِي الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَزَادَ ابْنُ مُعَاذٍ فِي حَدِيْثِهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْأَشَجِّ أَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ إِنَّ فِيكَ خَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ

زۀ تاسو لره منع کوم د هغه نبيذ نه چه هغه ګډ کړے شي د کدو په ډول کښې اوچوبي او شين لاکهي او روغن لوخي کښې. ابن معاذ په خپل روايت کښې د خپل پلار نه دومره زياته کړه چه رسول الله ﷺ د عبد القيس اشج ته (چه د هغۀ نوم منذر بن حارث بن زياد وو يا منذر بن عبيد يا عائذ بن منذر يا عبد الله بن عوف وو) او فرمايل په تاکښې دوه عادتونه داسے دي چه هغه الله پاک خوښوي. يو خو عقلمندي، دويم څۀ ساعت سوچ کول، تادي نۀ کول[1].

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَنْ لَقِيَ الْوَفْدَ الَّذِيْنَ قَدِمُوْا عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ قَالَ سَعِيْدٌ وَذَكَرَ قَتَادَةُ أَبَا نَضْرَةَ عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ فِي حَدِيْثِهِ هٰذَا أَنَّ أُنَاسًا مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ قَدِمُوْا عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا يَا نَبِيَّ اللهِ إِنَّا حَيٌّ مِنْ رَبِيعَةَ

د قتاده نه روايت دے چه ماته حديث بيان کړے دے هغه سړي چه هغه ملاؤ شوے وو. د هغه وفد نه کوم چه رسول الله ﷺ له راغلے وو د عبد القيس د قبيلے نه (او قتاده نوم نۀ دے اخستے د هغه سړي د چا نه چه ئې دا حديث اوريدلے دے. دے ته تدليس وائي) سعيد وائي چه قتاده د ابو نضره نوم اخستے دے. هغوئ اوريدلي دي د ابو سعيد خدري نه (سعيد بن مالک سنان نه) چه څۀ خلق د عبد القيس رسول الله ﷺ له راغے. او اوئې ويل چه اے نبي مونږ د ربيعه يو شاخ يو او زمونږ او ستا په مينځ کښې د مضر کافر دي. او مونږ ستا پورے نۀ شو راتلے.

---

[1] دا رسول الله ﷺ ددے دپاره اوفرمايل چه هر کله د عبد القيس خلق مدينے منورے ته راااورسيدل نو زر رسول الله صلى الله عليه وسلم له راغلل مگر اشج د سامان سره پاتے شو او ټول سامان ئې راغونډ کړو او په اوبښ ئې اوتړو بيائې نيے کپړے واچولے د هغے نه پس د حضرت صلى الله عليه وسلم خواله راغے. حضرت صلى الله عليه وسلم دے ترڅ راااوغوښتو. او د خان سره ئې اوګه په اوګه کينولو. بيائې ورته دا اوفرمايل چه په حقيقت کښې عقلمندي او اطمينان دا دواړه صفتونه داسے دي چه د ټولو خوبيانو زيلي دي. بعضے سړے عقلمند وي ليکن جلد باز. د هغۀ نه ډيرے غلطيانے کيږي اوبيا شرمنده وي. بنۀ خبره دا ده چه کوم کار کول غواړے ورمبے په هغے کښې بنۀ فکر اوکړه او په فائده او نقصان ئې نظر واچوه. بياچه هر کله ئې فائدے زياتے معلومے شي نو انجام به ئې هم بنۀ وي. نو هغه اوکړه کۀ پخپله دا کار نۀ شے کولے نو د عقلمندو دوستانو نه مشوره واخله حکماؤ ويلي دي چه کوم سړے هر کار د خيال د راتلو سره کوي په هغه کښې او په خناور کښې څۀ فرق نشته دے. د خناورو عقل په دے شان دے. چه د څۀ خيال ئې راشي په هغه طرف منډه کړي فکر او تامُّل او انجام ليدل هيڅ ئې نۀ وي.

وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ كُفَّارُ مُضَرَ وَلاَ نَقْدِرُ عَلَيْكَ إِلاَّ فِي أَشْهُرِ الْحُرُمِ فَمُرْنَا بِأَمْرٍ نَأْمُرُ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا وَنَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ إِذَا نَحْنُ أَخَذْنَا بِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ اعْبُدُوا اللهَ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَصُومُوا رَمَضَانَ وَأَعْطُوا الْخُمُسَ مِنَ الْغَنَائِمِ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ قَالُوا يَا نَبِيَّ اللهِ مَا عِلْمُكَ بِالنَّقِيرِ قَالَ بَلَى جِذْعٌ تَنْقُرُونَهُ فَتَقْذِفُونَ فِيهِ مِنَ الْقُطَيْعَاءِ قَالَ سَعِيدٌ أَوْ قَالَ مِنَ التَّمْرِ ثُمَّ تَصُبُّونَ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ حَتَّى إِذَا سَكَنَ غَلَيَانُهُ شَرِبْتُمُوهُ حَتَّى إِنَّ أَحَدَكُمْ أَوْ إِنَّ أَحَدَهُمْ لَيَضْرِبُ ابْنَ عَمِّهِ بِالسَّيْفِ قَالَ وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ أَصَابَتْهُ جِرَاحَةٌ كَذَلِكَ قَالَ وَكُنْتُ أَخْبَؤُهَا حَيَاءً مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ فَفِيمَ نَشْرَبُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فِي أَسْقِيَةِ

مگر په حرامو میاشتو کښې راځو. ته حکم اوکړه مونږ ته د داسې کار چه هغه مونږ نورو خلقو ته چه زمونږ نه روسته دی اوښایو او مونږ د هغې په وجه جنت ته داخل شو. هر کله چه مونږ په هغې باندې عمل اوکړو. رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل. زهٔ تاسو ته د ځلورو څیزونو حکم کوم او د ځلورو څیزونو نه مو منع کوم (د کومو ځلورو څیزونو چه حکم کوم هغه دادی) چه د الله عبادت کوئ او د هغهٔ سره څوک شریک مهٔ ګرځوئ او مونځ قائم کړئ او زکوٰة ورکوئ او د رمضان روژې نیسئ. او د غنیمت د مالونو نه پنځمه حصه ادا کوئ. او منع کومه تاسو لره د ځلورو څیزونو نه د کدو د ډول نه او د شین لاکهی لوخی او د روغنی لوخی او د نقیر نه خلقو اووې یا رسول الله ﷺ نقیر تهٔ نهٔ پیژنې حضرت ﷺ اوفرمایل ولې نهٔ پیژنم. نقیر یو لرګے دے چه هغې لره تاسو اوکنئ (او ډوغل ئې کړئ) بیا په هغې کښې قطیعا (یو قسم وړې کهجورې چه ورته شریر هم وائی) اولړئ. سعید اووې یا تمر پکښې اولړئ. او بیا پکښې اُوبهٔ واچوئ هر کله چه د هغې جوش کینی نو هغې لره څکئ تر دے پورې چه یو د تاسو نه د خپل ترهٔ خوی لره په توره سره وژنی (په نشه کښې راشی عقل ئې لاړ شی نو د دوست او دشمن پیژندل پاتې نهٔ شی نو خپل رور چا لره چه د هر څهٔ نه زیات غواړی په توره سره وژنی. د شرابو په بدو کښې دا یو لوئې بدوالے دے چه هغې لره حضرت ﷺ بیان کړے دے) راوی وائی زمونږ د خلقو کښې دغه وخت یو سړے موجود وو (چه نوم ئې جهم وو) په هغهٔ کښې د دغه نشې په وجه زخم وو. هغه اووې چه لیکن ما دے لره پټوو د رسول الله ﷺ نه د شرم په سبب ما اووې یا رسول الله ﷺ بیا په کوم

الأَدَمِ الَّتِي يُلاَثُ عَلَى أَفْوَاهِهَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَرْضَنَا كَثِيرَةُ الْجِرْذَانِ وَلاَ تَبْقَى بِهَا أَسْقِيَةُ الأَدَمِ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ أَكَلَتْهَا الْجِرْذَانُ وَإِنْ أَكَلَتْهَا الْجِرْذَانُ وَإِنْ أَكَلَتْهَا الْجِرْذَانُ قَالَ وَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ الْحِلْمُ وَالأَنَاةُ

لوخي کښې مونږ شربت څکوو. حضرتؑ اووے د څرمنې په لوښو کښې په مشکونو کښې. چه د هغې خله تړلے شي (په رسئ يا په تسمه سره) خلقو اووے. اے د الله نبيﷺ زمونږ په ملک کښې منګکان ډير دي هلته د څرمنې لوخي نه شي پاتې کيدے. حضرتؑ اوفرمايل څکوئ د څرمنې په لوښو کښې اګر که منګکان هغه پريکړي. اګر چه که منګکان هغه پريکړي اګر که منګکان هغه پريکړي (يعنې په کوم طور سره چه کيدے شي د څرمنې په لوښو کښې څکوئ او د منګکانو نه ئې حفاظت کوئ) ليکن په دغه لوښو کښې خو څکل صحيح نه دي ولے چه هغه د شرابو لوخي دي) راوي وائي چه رسول اللهﷺ د عبد القيس اشج ته اوفرمايل په تا کښې دوه خصلتونه داسے دي چه هغه الله پاک غوره ګڼړي يو خو عقلمندي دويم سوچ او اطمينان او تادي نه کول.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَهُ أَنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا أَتَوْا نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا يَا نَبِيَّ اللهِ جَعَلَنَا اللهُ فِدَاءَكَ مَاذَا يَصْلُحُ لَنَا مِنَ الأَشْرِبَةِ فَقَالَ لاَ تَشْرَبُوا فِي النَّقِيرِ قَالُوا يَا نَبِيَّ اللهِ جَعَلَنَا اللهُ فِدَاءَكَ أَوَ تَدْرِي مَا النَّقِيرُ قَالَ نَعَمِ الْجِذْعُ يُنْقَرُ وَسَطُهُ وَلاَ فِي الدُّبَّاءِ وَلاَ فِي الْحَنْتَمَةِ وَعَلَيْكُمْ بِالْمُوكَى

د ابو سعيد خدريؓ نه روايت دے. د عبد القيس وفد چه هر کله رسول اللهﷺ له راغے. نو اوئې ويل اے د الله نبيﷺ الله دِ مونږ په تا باندے قربان کړي. کوم څکل زمونږ دپاره صحيح دي. حضرتؑ اوفرمايل په نقير کښې مهٔ څکوئ. هغوی اووے اے د الله نبيﷺ الله دِ مونږ په تا باندے قربان کړي. ولے ته نقير پيژنې؟ حضرتؑ اوفرمايل. آو. نقير يو لرګے دے. چه د هغې مينځ ئې کنستلے او ډوغل کړے وي. او د کدو په ډول کښې هم مهٔ څکوئ. او په شين لاکهي لوښي کښې هم مهٔ څکوئ. او څکوئ (د څرمنې) په مشکونو کښې چه د هغې خله په رسئ يا په تسمه سره تړلے شي[1].

[1] نوويؒ وائي دا دے حديث نه (يعنې دا دے حديث نه چه د خو راويانو نه په مختلفو طريقو سره وړاندے روايت کړے شوے دے) ډير مسائل معلوم شول چه خائې په خائې به ذکر شو. او زهٔ به اختصار سره دے لړه دلته بيانوم. يو خو د رؤسا او اشرافو وفد روانول د

بَابُ الدُّعَاءِ إِلَى الشَّهَادَتَيْنِ وَشَرَائِعِ الْإِسْلَامِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ مُعَاذًا قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ فِي فُقَرَائِهِمْ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ

باب خلقو لره د شهادتونو طرفته د راغوښتو او د اسلام د ارکانو بیان

د ابن عباس نه روایت دے چه معاذ بن جبل وائی چه زه رسول الله ﷺ د یمن په طرف حاکم کړم او لیږلم نو اوئے فرمایل ته به ملاو شے د خه خلقو سره د اهل کتابو نه نو را اوغوړه هغوی لره دد ے خبرے گواهئ طرفته چه خوک د عبادت لائق نشته سوا د خدائے پاک نه او زه د خدائے رالیږلے شوے پیغمبر یم (یعنی محمد ﷺ) که چرے هغه دا اومنی نو ورته اوښایه دا خبره چه خدائے پاک په هره شپه او ورځ کښ پنځه مونځونه فرض کړی دی که چرے هغوی دا اومنی نو هغوی ته دا اووایه چه خدائے پاک په دوی باندے زکوٰة فرض کړے دے چه هغه به ددوی د مالدارانو نه اخستے شی بیا به د هغوی فقیرانو او محتاجو لره ورکولے شی که چرے هغوی دا خبره اومنی نو خبردار! وانخلے غوره مال د هغوی نه یعنی په زکوٰة کښ د درمیانه درجے خناور اخله ډیرو پیو ورکونکے او ښورب مه چانړ کوه) او د مظلوم د بد دُعا

ضروری او د مهم کارونو دپاره دویم د سوال نه وړاندے عذر ظاهرول دریم دمهمات اسلام او د ارکان اسلام بیان سوا د حج نه او مخکښ مونږ ویلی دی چه دد ے وخت پورے حج فرض شوے نه وو. څلورم د عالم مدد غوښتل د نورو د پوهه کولو دپاره د چا بل سړی نه لکه د ابن عباس مترجم چه ابو جمره وو. پنځم په ترجمه او فتوی او خبر کښ د یو سړی قول کافی لیدل. شپږم د میلمه دپاره مرحبا ویل او د هغهٔ د خوشحالولو دپاره د هغهٔ تعریف کول اووم په خله باندے تعریف کول هر کله چه پکښ د فتنے یره نهٔ وی او په خله باندے تعریف کول یعنی مدح او منع ده هغه په هغه وخت چه د فتنے یره وی. گنی پخپله د رسول الله ﷺ نه په ډیرو مقاماتو کښ مدح ثابته ده حضرت د رشتے کولو په حدیث کښ ابوبکر ته اوفرمایل چه ته د هغه خلقو نه نهٔ ئے چه هغه د تکبر نه داسے کار کوی او فرمایلی ئے وو اے ابوبکر: مهٔ ژاړه د ټولو خلقو نه زیات احسان د صحبت او د مال په وجه سره په ما باندے ستا دے او کوم چه زهٔ چا لره دوست جوړوم سوا د خدائے نه، نو ابوبکر به جوړوم او دغه شان ډیر احادیث او آثار منقول دی. اتم په تپوس کونکی باندے ملامتیا نه کول که چرے هغه اووائی ماته ښکاره بیان اوکړه. نهم صرف درمضان لفظ ویل صحیح کیدل شهر رمضان ویل ضروری نه دی لسم د عالم نه دوباره د پوهه کیدو دپاره تپوس کول یوولسم تاکید کول د خبرے د زیات اثر غورخولو دپاره. دولسم دا ویل صحیح دی چه خدائے د ما په تا باندے قربان کړی او فدا کړی. انتهٰی مختصراً

وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ قَالَ إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ أَهْلِ كِتَابٍ فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ عِبَادَةُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَإِذَا عَرَفُوا اللهَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللهَ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ فَإِذَا فَعَلُوا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً

نه خان بچ اوساته ځکه چه د مظلوم دبددعا او د الله پاک په مینځ کښې څوک منع کونکے نشته دے[1].

د ابن عباس ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ چه هر کله معاذ یمن ته اولیږو نو هغه ته ئے اووے. ته چې د اهل کتابو نه د یو قوم خواله نو د هر څهٔ نه اول چه کوم طرفته ته هغه رابلے هغه د الله پاک عبادت دے. بیا چه هر کله هغوی خدائے اوپیژنی نو خبر ورکړه دوی لره چه الله پاک په دوی باندے په شپه او ورځ کښې پنځه مونځونه فرض کړی دی. هر کله چه هغوی دا شروع کړی. نو بیا ورله خبر ورکړه چه الله پاک په دوی باندے زکٰوة فرض کړے دے. چه هغه به ددوی د مالونو نه اخستے شی. او بیا

[1] یعنی زر الله ته رسی او قبلیږی. نووی ؒ وائی ددے حدیث نه ډیری خبرے راوځی قبلول د خبر واحد او واجبیدل د عمل په هغے باندے. او د وتر واجب نهٔ کیدل. ددے دپاره چه معاذ د رسول الله ﷺ د وفات نه څو ورځے وړاندے یمن ته لیږلے شوے وو. بیا کهٔ چرے وتر واجب وے. نو حضرت ﷺ به دے لره هم په مونځونو کښې شریک کړی وو. او مسنون کیدل دعوت د کفارو په طرف د توحید د جنګ نه وړاندے او حکم پرِ نهٔ کول د اسلام د کومے پورے چه د شهادتینو په ژبه سره اقرار اونهٔ کړی او دا مذهب دے د اهل سنت او واجب کیدل د پنځو مونځونو په هر شپه او ورځ کښې. او ظلم ته عظیم ګناه ویل او د امام نصیحت کول خپلو عاملانو ته د الله نه د یریدو دپاره اود ظلم نه د بچ کیدو دپاره او حرامیدل د زکٰوة په وصولونکی باندے غوره او چانړ شوے مال اخستل. او په دے شان د مال په خاوند باندے بد مال ورکول او زکٰوة نهٔ ورکول کافر لره نهٔ مالدار لره. او استدلال کړے دے په دے حدیث سره خطابی او زمونږ اصحابو چه د زکٰوة نقل جائز نهٔ دے یعنی د یو ملک زکٰوة د بل ملک فقیرانو لره نهٔ شی لیږلے. او دا استدلال قوی نهٔ دے. ولے چه د فقراو نه مراد د مسلمانانو فقیران کیدے شی او بعضو ددے حدیث نه دا استدلال کړے دے چه کافر د فروع شریعت لکه د مونځ اوروژے سره مخاطب نهٔ دی. یعنی هغوی ته صرف دا حکم دے چه ایمان راوړی او ددے امر په نهٔ کولو باندے به هغه عذابیږی. مونځ روژه وغیره په هغوی باندے هله فرض دی چه هغه مسلمانان شی او دلیل ددے دادے چه حضرت ﷺ په دے حدیث کښې دا فرمایلی دی چه کهٔ چرے اومنی نو هغوی ته دا اوښایه. نو معلومه شو چه هر کله ئے شهادتین نه وی منلی نو نور ارکان د اسلام په هغو باندے واجب نهٔ دی او دا استدلال ضعیف دے. ددے دپاره چه د حدیث نه مقصود دادے چه هر کله هغه د شهادتینو اقرار اوکړی نو هغو ته اوښایه. چه د مانځهٔ مطالبه به ددوی نه په دنیا کښې کیږی. او په دنیا کښې خو د ارکان اسلام مطالبه هغه وخت کیږی چه هر کله هغه اسلام قبول کړی ددے نه دا نهٔ لازمیږی چه په آخرت کښې هم هغو لره د ارکان اسلام په پریخودو باندے عذاب نهٔ وی او قرینه په دے باندے دادہ چه حضرت ﷺ یوه یوه خبره په ترتیب خودلے ده. ورمبے چه کومه ډیره ضروری وه بیا د هغے نه کمه ضروری بیا دهغے نه کمه او پخپله په دے حدیث کښې دا خبره موجوده ده. چه هر کله هغوی مونځ اومنی نو د زکٰوة فرضیت ورته اوښایه حالانکه ددے څوک قائل شوے نهٔ دے. چه ورمبے په انسان باندے مونځ فرض کیږی. بیا د هغے نه پس زکٰوة فرض کیږی.

تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ فَإِذَا أَطَاعُوا بِهَا فَخُذْ مِنْهُمْ وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ

به ددوی فقیرانو ته ورکولے شی هر کله چه هغه دا هم اومنی نو د هغوی نه زکوٰة واخله او د هغو د غوره مالونو نه خان بچ اوساته [1]

بَاب الْأَمْرِ بِقِتَالِ النَّاسِ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ

باب: د کومے پورے چه خلق لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ محمد رسول اللّٰه او نه وائی د هغو سره د جنگ کولو حکم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِأَبِي بَكْرٍ كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ

د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه هر کله رسول اللّٰه ﷺ وفات شو او حضرت ابوبکرؓ خلیفه شو او د عربو خلق چه کوم کافر کیدونکی وو هغه کافر شول نو حضرت عمرؓ ابوبکرؓ ته اووے. ته ددغه خلقو سره ولے جنگ کوے. حالانکه رسول اللّٰه ﷺ فرمایلی دی. ماته حکم شوے دے د خلقو سره د جنگ تر دے پورے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اووائی. بیا چا چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اووے هغهٔ خما نه خپل مال او جان بچ کړو مگر د چاد حق په بدله (یعنی د څهٔ قصور په بدله کښې لکه زنا اوکړی یا وینه توی کړی نو نیولے به شی) بیا حساب د هغے په اللّٰه باندے دے (کهٔ د هغهٔ په زړهٔ کښې کفر وی او په ظاهر کښې د یرے دوجے نه مسلمان شوے وی نو په قیامت

---

[1] قاضی عیاض ویلی دی. ددے نه معلومیږی چه اهل کتاب یعنی یهود او نصرٰی خدائے پاک نه پیژنی. او دغه قول ددے د لویو لویو متکلمینو اگر چه هغه په ظاهر کښې د خدائے پاک عبادت کوی. او وائی چه مونږ خدائے پاک پیژندلے دے اگر چه عقل دا خبره جائز کړے ده چه کوم سړے رسول نه منی هغه خدائے پاک پیژندلے شی. قاضی عیاض ویلی دی چه کوم سړے خدائے پاک د نورو مخلوق مشابه گنړی یا خدائے لره جسم ثابتوی د نورو جسمونو پشان د یهودیانو نه یا د خدائے پاک اولاد کیدل جائز گنړی یا هغهٔ لره بی بی یا خوئ ثابتوی یا د حلول او انتقال او امتزاج اجسامو پشان د هغهٔ دپاره جائز گنړی د نصرٰی نه یا د هغه او صاف داسے بیانوی چه هغه د هغه لایق نهٔ وی یا د هغه دپاره شریک یا مخالف یا یو شان والے ثابتوی د مجوسیانو او بت پرستو نه ددے تولو معبود په حقیقت کښې خدائے پاک نهٔ دے. اگر چه هغه د هغهٔ نوم خدائے پاک وائی (یعنی خدائے پاک اړدی) خو په حقیقت کښې هغوی ربنتونے رب لره نهٔ دے پیژندلے په دے نکته خان پوهه کول او یاد ساتل پکار دی (نووی). دا چه نے اوفرمایل ددوی د مال نه به زکوٰة اخستے شی ددے نه دا معلومه شوه چه کهٔ یو مسلمان زکوٰة نهٔ ورکوی نو جبراً به د هغهٔ د مال نه وصولولے شی په دے کښې خلاف نشته دے مگر اختلاف په دے کښې دے چه ایا هغه باطناً بینه وبین الله د زکوٰة نه بری شوے وی یا نهٔ وی په دے کښې زمونږ د اصحابو دوه قولونه دی (نووی رحمه الله)

فقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ وَاللهِ لأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ فَإِنَّ الزَّكٰوةَ حَقُّ الْمَالِ وَاللهِ لَوْ مَنَعُوْنِيْ عِقَالاً كَانُوْا يُؤَدُّوْنَهُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهِ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَوَاللهِ مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ رَأَيْتُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ شَرَحَ صَدْرَ أَبِيْ بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ

کښې به الله دهغهٔ سره پوهیږی دنیا به ظاهره بلند ے ده به دنیا کښې به ددهٔ نه څهٔ مواخذه نهٔ شي کیدے حضرت ابوبکرؓ ورته اووے قسم به خدائے چه زهٔ خو به جنګیږم د هغه سړی سره چه هغه فرق کوی به مونځ او زکوٰة کښې ددے دپاره چه زکوٰة د مال حق دے قسم به خدائے کهٔ چرے هغه یو عقال پاتے کړی کوم چه نے رسول الله ﷺ ته ورکوو نو زهٔ جنګ کوم د هغه سره د هغے په نهٔ ورکولو باندے حضرت عمرؓ وائی قسم په خدائے بیا هغه څهٔ نهٔ وو مګر ما یقین اوکړو چه الله جل جلاله سینه د ابو بکرؓ فراخه کړے ده د جنګ دپاره (یعنی د هغهٔ په زړهٔ کښې نے دا خبره اچولے ده) بیا زهٔ پوهه شوم چه دا حق دے[1]

[1] خطابی ویلی دی کوم خلق چه د اسلام نه واپس شوی وو یعنی روګردان شوی وو هغه په دوه قسمه وو یو خو هغه وو چه هغو بالکل دین اسلام پریخودے وو او خپل د کفر د حالت په طرف واپس شوی وو. او ابوهریره چه څهٔ ویلی دی کافر شول د عربو خلق چه کوم کافر شوی وو ددے نه مراد ددے قسم خلق دی او په دغه خلقو کښې هم دوه ګروپونه وو. یو ګروپ خو د مسیلمه کذاب وو چه کافر ګرځیدلے شو او اسود عنسی نے رسول منلے وو او ددے قبلونکی کسان د یمن د خلقو نه وو. او یو ګروپ ددے برعکس وو دے فرقو خو بالکل زمونږ د پیغمبر ﷺ د نبوت نه انکار کولو او اسود یا مسیلمه لره نے پیغمبر ګڼړلو. حضرت ابوبکرؓ د هغوی سره جنګ شروع کړو تردے پورے چه مسیلمه په یمامه کښې او اسود عنسی په صنعا کښې قتل کړے شو. او د هغو جماعتونه ختم کړے شو. او اکثر ددو نه مرهٔ شول دویم ګروپ هغه وو چه هغه ددین نه وتلے وو او د شرائع او احکام دین نه منکر شوی وو او مونځ روژه نے پریخودی وو او بیا دهغه جاهلیت په طریقه باندے روان وو دغه وخت الله پاک ته سجده صرف په دریو جماعتونو کښې کیدے شوه یو د مکے مکرمے په جماعت کښې بل د مدینے منورے په جماعت کښې او دریم د عبد القیس په جماعت بحرین کښې. د دویم قسم هغه خلق وو چه هغوی په مونځ او زکوٰة کښې فرق را اوویستو نو مونځ به نے کوو خو د زکوٰة ورکولو نه نے انکار اوکړو. دا خلق په حقیقت کښې یو قسم باغیان وو. ددغه خلقو په باره کښې حضرت عمر عنه شک راغے (السراج الوهاج). د حضرت عمر اعتراض په نظر د ظاهر حدیث وو چه هر کله رسول الله ﷺ فرمایلے وو. چا چه لَا إِلٰهَ إِلَّا الله اووے هغهٔ خما نه خپل مال او جان بچ کړو. او دا خلق لَا إِلٰهَ إِلَّا الله وائی. صرف د زکوٰة ورکولو نه انکار کوی بیا د هغوی سره جنګ کول او د هغوی جان او مال د هغوی نه اخستل څنګه صحیح کیدے شی مطلب د حضرت ابوبکر صدیق دا وو چه رسول الله ﷺ د مال او جان حفاظت په دوو شرطونو باندے معلق کړے دے. او کوم حکم چه په دوو شرطونو باندے معلق وی هغه د یو شرط په کیدو سره نهٔ شی حاصلیدے. هر کله چه دویم شرط نهٔ وی بیا قیاس شو دے لره په مانځه سره بعد ددے نه زکوٰة لره په مثل د مانځهٔ اوګرزولے شو. په دے حدیث کښې دلیل دے ددے خبرے چه کوم سړے مونځ پریږدی په اجماع د صحابو رضی الله عنهم سره ددهٔ سره جنګ کول صحیح دی هر کله چه ابوبکر زکوٰة چه مختلف فیه و د مانځهٔ په مثل اوګرزو چه هغه متفق علیه وو نو په دے معامله کښې حضرت عمر په عموم حدیث سره استدلال اوکړو او ابوبکرؓ د

قیاس نهٔ ور معلومه شو. چه د عامو تخصیص د قیاس نه کیدے شی. په مسلم کښ عقالًا مروی ده او داسے په بخاری کښ او په بعضے روایتونو کښ د عقال په بدله عناق دے. چه د بزے بچی ته ویلے شی. او دواړه صحیح دی او محمول دی په دے امر باندے چه ابوبکر دا کلام دوه خله ویلے وی یو خل ئے عقال ویلے او یو خل ئے عناق. نو روایت شوی دی ددهٔ نه دواړه لفظونه. نو د عناق نه مراد د بزو هغه بچی دی چه د هغو میاندے مړے شوے وی. اود عقال نه مراد د یو کال زکوة دے. او بعضو ویلی دی چه عقال هغه رسَئ ده چه په هغے سره اوښان تړلے کیږی او نووی دے ته صحیح ویلی دی ولے چه دا موقع د شدّت او مبالغے ده. نو د کومے پورے چه د عقال تحقیر وی مناسب دے. او هر کله چه د یو کال د زکوٰة مراد واخلے نو دا مطلب نهٔ شی حاصلیدے (السراج الوهاج). نووی ویلی دی چه عمر د ابوبکر تقلید نهٔ دے کړے. په دے واسطه چه عمر پخپله مجتهد وو. او مجتهد له صحیح نهٔ دی ددویم مجتهد تقلید کول او روافضو دا خیال کړے دے. چه حضرت عمر د ابوبکر تقلید اوکړو. او بناء د دے د هغو په خیال فاسد باندے ده. چه امام لره معصوم کیدل ضروري دی دا د هغوی ښکاره شوے جهالت دے (السراج الوهاج). امام نووی ویلی دی چه بعضے رافضیانو دا خیال کړے دے چه ابوبکر د تولو نه مخکښ مسلمانانو لره قید او قتل کړی دی. حالانکه هغه خلقو د زکوة په باب کښ تاویل کولو اوویل به ئے چه په قرآن کښ دا کوم حکم چه دے خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً الاٰية. نو دا خطاب د رسول الله ﷺ دپاره خاص دے په دے واسطه چه تطهیر یعنی دګناهونو نه پاکیدل او تزکیه او صلوة د بل چا نه نهٔ شی کیدے. خطابی ویلی دی دا خیال ددا سے خلقو دے چه د هغو ددین سره لږه واسطه نشته دے او د هغو ښهٔ مقصد ونه افتراء او بهتان او د سلفو غلطے دی. او مونږ وړاندے بیان کړی دی چه د اسلام نه مرتد شوے خلق په څو قسمه دی بعضے خو ددین نه بالکل بهر شوی وو. او مسیلمه وغیره لره ئے پیغمبر ګڼړلے وو او بعضو مونځ اوزکوٰة او ټول شریعت لره پریخودے وو بیادے خلقو لره صحابه رضی الله عنهم کافران اوګڼړل او ابوبکر ددوی سره جنګ اوکړو او د هغو ښځو او بچو لره ئے غلامان جوړ کړل. او اکثرو صحابو په دے خبره کښ د ابوبکر موافقت اوکړو. پخپله حضرت علی د بنی حنیفه د قیدیانو نه یوے ښځے لره خپله وینځه جوړه کړه. چه د هغے د ګیډے نه محمد بن حنیفه پیدا شو بیا د صحابو رضی الله عنهم د زمانے تیریدو نه وړاندے په دے خبره باندے اتفاق راغے. چه مرتد لره قید کول نهٔ دی پکا بلکه قتلول ئے پکار دی او هغه خلق چا چه د زکوة د ورکولو نه انکار کړے وو. هغه په دین باندے قائم وو خو باغیان وو. او اګر چه په هغو کښ بعضے په زکوة ورکولو باندے راضي وو. خو د هغو سردارانو هغه د زکوة ورکولو نه منع کړی وو. لکه بنی یربوع چه هغه په زکوة ورکولو باندے مستعد شوی وو. او مال زکوٰة ئے راجمع کړے او د هغے رالیږونکی وو. چه مالک بن نویره هغوی لره منع کړل بیائے دا خلق خاص کړل کافر ئے ورته او نهٔ وے. اګر چه داهم یو قسم له مرتد وو ولے چه په مرتدو خلقو کښ شریک شوی وو ددین په بعضو خبرو موقوف کولو کښ. ددے دپاره چه د مرتد اطلاق په هر ګمراه باندے کیږی. او په هر هغه سړی باندے چه هغه وړاندے د یو کار په طرف توجه لری او بیاد هغے نه اعراض اوکړی یعنی د هغے نه واوړی. دا خلق هم د اطاعت نه اوړیدلی وو. او حق لره ئے منع کوو. نو دا قبیح لقب د مرتد د دوی سره هم اولګیدو او دینداری ئے لاړه. او داچه کوم هغوی استدلال کړے وو دقرآن نه. چه په قرآن کښ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ کښ خطاب خاص دے د رسول الله ﷺ سره نو د قرآن خطاب په درے قسمه دے. یو خطاب عام دے لکه يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ یعنی اے ایمان والو هر کله چه تاسو او دریږئ د مانځهٔ دپاره. يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ الخ یعنی اے ایمان والو فرض شوی دی په تاسو باندے روژے. او یو خطاب خاص د رسول الله ﷺ دپاره دے. چه په هغے کښ دویم شریک کیدے نهٔ شی. او هغه هغه وخت دے چه په قرآن کښ صفا ارشاد وی چه دا حکم د پیغمبر سره خاص دے لکه وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ. او داسے ئے فرمایلی دی. خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ. او یو خطاب هغه دے. چه په هغے کښ الله پاک خپل پیغمبر ﷺ لره مخاطب کړے دے. خو په هغے کښ پیغمبر ﷺ او د ټول امت خلق برابر دی. لکه اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ او قائم کړه

مانځه لره د نمر د کمیدو سره او لکه فَإِذَا قَرَءْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ یعنی هر کله چه تاسو قران لولئ نو پناه غواړئ د شیطان مردود نه او داسې وَإِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ او دا خطاب شوے دے په جهاد کښې چه د رسول الله ﷺ سره خاص نه دے بلکه ټول امت په دے کښې شریک دے. په دے شان دا خطاب هم دے. خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً الآية نو چه کوم سړے د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د هغه قائم مقام وی هغه په دے باندے عمل کولے شی. او د دے په مثل دے دا آیت يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ چه خطاب دے د نبی ﷺ طرفته او حکم دے ټولو مسلمانانو ته. بلکه په بعضے مقاماتو کښې خطاب دے د پیغمبر ﷺ طرفته او مراد تر نه نور خلق دی لکه فَإِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِمَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ. د دے دپاره چه حضرت ﷺ لره شک نه وو. په هغه څه کښې چه په هغه باندے نازلیدو. پاتے شو تطهیر او تزکیه او دُعاء نو دا هر یو امام کولے شی. د صاحب صدقے دپاره او کوم ثواب چه په کوم عمل باندے وارد شوے دے هغه قائم دے. د هغه د وفات سره موقوف شوے نه دے. امام او عامل لره مستحب ده چه د صدقه ورکونکی دپاره دُعا اوکړی. د دے دپاره چه د هغه په مال کښې ترقی او برکت شی. او امید دے چه خدائے پاک به د هغه دعا قبلوی. او د هغه سوال به نه رد کوی. او که چرے څوک دا اووائی چه کومو خلقو په دغه زمانه کښې د زکوٰة نه ورکولو دپاره تاویل کړے وو هغه باغیان ګڼړلے شوی وو. اوس که چرے په دے زمانه کښې څوک د زکوٰة د فرضیت نه انکار اوکړی. او دے لره ادا نه کړی نو ولے د دهٔ حکم به په مثل د باغیانو وی. نو جواب د دے "نه" په دے زمانه کښې چه څوک د زکوٰة د فرضیت نه انکار اوکړی هغه بالاجماع کافر دے. او وجه د دے داده چه هغه خلق معذوره وو په څو وجُوه سره. یو خو دا چه زمانه د نبوت هغوی ته نژدے وه هر کله چه احکام به منسوخ کیدے شول دویمه دا چه هغه خلق ناپوهه وو او نوی مسلمانان شوی وو. د دے وجے نه په شبه کښې پریوتل. اوس خو دین اسلام شائع او مشهور شوے دے. او د دین خبرے خاص او عام ټولو ته معلومے شوی دی. اوس عالم څه چه د جاهله پورے هر چا ته پته ده چه زکوٰة د اسلام یو رکن دے. نو اوس څوک معذوره کیدے نه شی د دے په انکار کښې. دغه شان حکم دے هر سړی ته چه هغه انکار اوکړی د امت په اجماعی کارونو کښې د یو کار نه چه هغه مشهور وی. لکه پنځهٔ مونځونه یا د رمضان روژے، یا د جنابت د غسل نه یا د زنا د حرام والی نه یا د شرابو د حرام والی نه یا د محرم ښځو سره د نکاح د حرام والی نه البته که چرے څوک په دے زمانه کښې هم نوے مسلمان شی او ارکان اسلام په ښهٔ شان له نهٔ پیژنی هغه که چرے انکار اوکړی د ناخبرئ د وجے نه نو هغه به کافر نه وی او د اسلام اطلاق به په دهٔ باندے باقی پاتے وی. او کومے خبرے چه د امت اجماعی دی خو په خاص او عام کښې مشهورے نه دی د هغے انکار به کفر نه وی. لکه ترور او وریرے لره جمعه کول یا ترور او خورزے لره یا قاتل لره میراث نه ورکول یا نیا ته شپږمه ملاویدل (انتهیٰ با اختصار). په سراج الوهاج کښې دی چه ابوبکر چه کوم دلیل راوړے او عمر چه پرے کوم اعتراض کړے دے د دے نه معلومیږی چه دوی ته د دویم روایت خبر نهٔ دے شوے چه هغے لره ابوهریره روایت کړے دے. چه پیغمبر ﷺ فرمایلی دی ما ته حکم شوے دے د خلقو سره د جنګ کولو تر دے پورے چه هغه ګواهی ورکړی د دے خبرے چه نشته دے معبودِ برحق سوا د خدائے نه او یقین اوکړی په ما باندے او په هغه څهٔ باندے چه ما راوړی دی. هر کله چه داسے اوکړی نو بچ کړو هغوی خپلو مالونو او ځانونو لره مګر د حق په بدله بیا حساب د هغے په الله پاک باندے دے. او د ابن عمر په روایت کښې دی چه ګواهی ورکړی د دے خبرے چه نشته دے معبودِ برحق سوا د خدائے پاک نه او محمد ﷺ د هغهٔ رسول دے. او ادا کوی مانځهٔ لره او ورکوی زکوٰة لره. او د انس په روایت کښې دی چه مخ کوئ په مانځهٔ کښې زمونږ د قبلے په طرف او خوری زمونږ ذبحه شوے ځناور او زمونږ پشان مونځ کوئ د دے دپاره که چرے حضرت عمر ته د دے روایتونو خبر وے نو دا اعتراض به ئے نهٔ کوو او که چرے ابوبکر ته خبر وے نو هغهٔ به په حدیث سره دلیل راوړے وو قیاس به ئے ولے کوو د دے حدیث نه ډیرے خبرے معلومے شوے یو خو د قیاس حجت کیدل او په هغے باندے عمل کول دویم مونځ یا زکوٰة یا نور فرائض د اسلام لره د نهٔ ادا کونکو سره جنګ کول. دریم د باغیانو سره د جنګ اجازت ځلورم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي. ما ته حكم شوے دے د خلقو سره د جنګ كولو ترد ے پورے چه هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووائي بيا چه چا لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووے. هغه بچ كړو خمانه خپل مال او خان لره مګر د چا د حق په بدله كښ او حساب د دے په اللهؒ باندے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَيُؤْمِنُوا بِي وَبِمَا جِئْتُ بِهِ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي. ما ته حكم شوے د خلقو سره د جنګ ترد ے پورے چه هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووائي (يعني نشته دے معبود برحق سوا د خدائے نه) او په ما باندے ايمان راوړي چه زهٔ د الله رالېږلے شوے يم) او په هغه څهٔ باندے چه هغه ما راوړے او راغلے يم (يعني په قرآن باندے او د شريعت په ټولو احكامو چه هغه ما راوړي دي، كهٔ چرے هغوي داسے اوكړو نو بچ ئے كړو خمانه مالونه او نفسونه خپل مګر د حق په بدله او حساب د هغے په اللهؒ دے[1]

امام لره د ضرورت په وخت اجتها د صحيح كيدل او د امام سره بحث كول. امام نوويؒ وئيلي دي چه قاضي عياضؒ وئيلي دي چه په لَا اِلٰهَ اِلَّا الله وئيلو باندے خان او مال محفوظ پاتے كيدل د عربو د مشركانو او بت پرستو دپاره دي. د دے نه سوا نور كافران چه د توحيد اقرار كوي لكه اهل كتاب وغيره هغه صرف د توحيد په وجه سره نهٔ شي بچ كيدے. د دے دپاره په دويم حديث كښ ئے دومره زياته كړے ده چه ما لره رسول ﷺ اومني. او مونځ كوي او زكوٰة وركوي. او د دے سره سره دا هم ضروري ده چه خومره احكام او مسائل د رسول الله ﷺ نه ثابت دي د ے ټولو لره اومني. بيا نووي وائي چه علماؤ اختلاف كړے دے. د زنديق په توبه قبلولو كښ يعني چه بالكل د شريعتِ الهي نه منكر شي (لكه چه زمونږ په د ے دجّالي زمانه كښ يوه فرقه راوتلے ده چه ورته نيچري يا طبعي وائي نو په دے كښ پنځهٔ قولونه دي، په ټولو كښ صحيح او صواب دا دے چه توبه د دهٔ قبوله ده. په سبب د احاديث صحيحه مطلقه او يو قول دا دے چه د دهٔ توبه هر ګز قبوله نهٔ ده. بلكه دهٔ لره قتلول پكار دي. بيا كهٔ چرے هغه په حقيقت كښ رښتونے وي نو په آخرت كښ به د هغهٔ خلاصے وي او يو قول دا دے چه دو درمبي وار توبه ئے قبوله ده بيا كهٔ چرے كفر اختيار كړي نو توبه ئے مقبوله نهٔ ده. يو قول دا دے چه كهٔ چرے هغه پخپله توبه كړي نو قبوله ده. او كهٔ چرے د تورے د يَرے نه توبه كړي نو قبوله نهٔ ده او يو قول دا دے چه هغه كهٔ چرے نورو لره ګمراه كوي او ګمراهئ طرفته ئے رابلي. نو د هغهٔ توبه قبوله نهٔ ده ګني نو قبوله ده. (انتهى)

[1] نوويؒ وائي چه په دے حديث كښ بيان دے د هغه خبرے چه هغه په نورو روايتونو كښ لنډه كړے شوے ده صرف د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله په وئيلو سره. يعني د دے حديث نه صفا معلوميږي چه دا پورته روايتونه چه په هغو كښ صرف د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله د وئيلو بيان دے. مختصر او مجمل دي د خان او مال بچ كولو دپاره لكه څه د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اقرار ضروري دے دغه شان د محمد رسول الله ﷺ اقرار هم ضروري دي بلكه د قرآن او حديث او د ټولو احكام شريعت منل چه د هغے نبوت په تواتر يقين ته رسيدلے دے ضروري دي. او د دے بيان په

عَنْ جَابِرٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ فَإِذَا قَالُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُسَيْطِرٍ

د جابر او ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمايلى دى ما ته حكم شوے دے د خلقو سره د جنگ كولو تر هغے چه هغه لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله اووائى. بيا كۀ چرے هغوى لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله اووے نو بچ ئے كړل خمانه خپلو مالونو او خانونو لره مگر د حق په بدله او حساب د هغے په الله پاك باندے دے. بيا حضرتﷺ دا ايات اولوستل. اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ* يعنى ته خو نصيحت كونكے ئے خلقو ته، ستا څۀ زور په دوى باندے نه دے(دا آيت د هغه وخت دے چه كله جهاد فرض شوے نه وو)

عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ فَإِذَا فَعَلُوا عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمايلى دى ما ته حكم شوے دے د خلقو سره د جنگ كولو تر دے چه گواهى وركړى دد خبرے چه نشته دے معبود برحق سوا د خدائے پاک نه او بيشكه محمدﷺ د هغۀ رسول دے.او قائم كړى مانځۀ لره او وركوى زكٰوة لره. بيا چه هر كله دا اوكړى نو بچ كړل هغوى خمانه خپل خانونه او مالونه مگر د حق په بدله او حساب د هغے په الله باندے دے[1].

تفصيل سره پورته تير شوے دے. او دد ے حديث نه معلوميږى چه هر كله سړے په دين اسلام باندے مضبوطه عقيده لرى. او شک نه كوى نو هغه مومن دے. او مؤحد دے. دا ضرورى نۀ ده چه د اهل كلامو د لائل معلوم كړى. او خدائے په دغه دليلونو سره اوپيژنى. دا قول دے د محققينو سلفو او د بعضے خلقو په نز د ايمان د پوره كيدو دپاره د دلائلو پيژندل ضرورى دى. او دا قول دے د معتزله او بعضے اشاعرو او دا خطا دے دد ے دپاره چه مقصود يقين دے او هغه حاصل شو د تقليد نه هم دويمه دا چه رسول اللهﷺ هم صرف يقين لره كافى گنړلے دے. او دلائل دريافت كولۀ ئے شرط كړى نه دى

[1] په سراج الوهاج كښى دى چه د امام شوكانيؒ نه چا سوال اوكړو. هغه خلق چه په ځنگل كښى اوسيږى او څۀ حكم شرعى په ځائے نۀ راوړى نه مونځ نۀ روژه صرف په ژبه سره كلمه شهادت لولى. هغه كافر دى يا مسلمانان او آيا مسلمانانو لره د هغو سره جهاد كول پكار دى يا نۀ؟ هغوى جواب وركړو په "ارشاد السائل" كښى دى چه كوم سړے اركان اسلام او فرائض اسلام لره بالكل پريږدى او د هغۀ سره څۀ نۀ وى سوا د ژبے د لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله د وينا نه. نو بيشكه هغه كافر دے. او شديد الكفر د هغۀ خان او مال حلال دے. دد ے دپاره چه د صحيح احاديثو نه دا خبره ثابته ده. چه مال او خان هغه وخت بچ كيدد ے شي. هر كله چه اركان اسلام ادا

أَبِي مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَكَفَرَ بِمَا يُعْبَدُ مِنْ دُوْنِ اللهِ حَرُمَ مَالُهُ وَدَمُهُ وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ

د ابو مالکؓ نه روایت دے هغه اوریدلی دی د خپل پلار نه هغه وائی چه ما اوریدلی د رسول اللهﷺ نه چه فرمایلی ئے وو. کوم سړی چه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووے او انکار ئے اوکړو د هغه څیزونو نه چه د چا عبادت کوی سوا دخدائے پاک نه کۀ سړے وی یا پیرے دیوتا یا جادو غر یا بُت وغیره نو حرام شو مال ددۀ وینه ددۀ او دے حساب په اللهؒ باندے دے.

بَابُ الدَّلِيْلِ عَلٰى صِحَّةِ إِسْلَامِ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ مَالَمْ يَشْرَعْ فِي النَّزْعِ وَهُوَ الْغَرْغَرَةُ وَنَسْخِ جَوَازِ الِاسْتِغْفَارِ لِلْمُشْرِكِيْنَ وَالدَّلِيْلِ عَلٰى أَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى الشِّرْكِ فَهُوَ فِي أَصْحَابِ الْجَحِيْمِ وَلَا يُنْقِذُهُ مِنْ ذٰلِكَ شَيْءٌ مِنَ الْوَسَائِلِ

باب: بیان ددے خبرے چه کوم سړے د مرګ په وخت مسلمان شی نو د هغۀ اسلام صحیح دے د هغې پورے چه حالت د ځنکدن نۀ وی. یعنی ساه وتل شروع شوی نۀ وی. او د مشرکینو دپاره دُعا کول منع دی او څوک چه د شرک په حالت مړ شی هغه صاحب د جهنم دے او څۀ وسیله به ددۀ پکار نۀ راځی.

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ

سعید بن مسیبؒ چه د مشهورو تابعینمو نه دے ابن مدینی وائی ما ددۀ نه

کړی نو د کافرو سره چه کوم مسلمانان ترډے دی په دوی واجب دی چه دوی ته د اسلام احکام اوښائی. او د هغې په ځائے کولو دپاره هغوی ته دعوت ورکړی. ورمبے په نرمئ او سهولت سره د ثواب رغبت به ورته ورکړی او د عذاب نه به ئے او یره وی او پوهه به ئے کړی کۀ چرے هغه اومنی او ارکان اسلام ادا کول شروع کړی خوښه خبره ده. او کۀ چرے انکا راوکړی او اونۀ منی نو مسلمانانو لره د هغو سره جهاد کول پکا ردی او د کومے پورے چه هغه د اسلام اعمال په ځائے ادا نۀ کړی د هغوی وینه توبول او مال حلال دے. او د هغوی حکم داسے دے لکه د جاهلیت دخلقو. او رسول اللهﷺ مونږ ته ښکاره بیان کړی دی هغه خبرے چه هغه د کافرانو سره د جنګ کولو متعلق دی. او ایات قرانی او احادیث نبوی په دے باب کښې ډیر دی او هر سړی ته معلوم دی. بلکه خاص ددے امر دپاره الله خپله رسول اللهﷺ رالیږلے دے او کتابونه ئے نازل کړی دی. او ددے نه زیات بیان کول بے فائدے اوږدول دی حاصل کلام دا دے چه هر کله هغه خلقو اسرار اوکړو په کفر باندے نو هغه ملک دار الحرب دے بلاشک او بے لاشبهے نه. او کوم احکام چه د دارالحرب دی دغه احکام به ددغه ملک وی. او اختلاف کړے دے مسلمانانو د کافرانو په ملک باندے د جهاد کولو دپاره د امام کیدل ضروری دی یا نۀ دی لیکن حق دا دے چه ضروری نۀ دی. او دا جهاد واجب دے په هر سړی باندے چه مسلمان وی او ایات قرانی او احادیث نبوی متعلق دی په دے کښې څۀ قید نشته (انتهی)

لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الْوَفَاةُ جَاءَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلٍ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَمِّ قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللهِ فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ يَا أَبَا طَالِبٍ أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ وَيُعِيدُ لَهُ تِلْكَ الْمَقَالَةَ حَتَّى قَالَ أَبُو طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ هُوَ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا وَاللهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ۞ التوبة ۱۱۳ وَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى فِي أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى

زیات په علم کښې یو تابعی نۀ دے موندلے فقیه دے امام دے) روایت کوی د خپل پلار نه (مسیب بن حزن بن عمرو بن عابد بن عمران بن مخزوم قرشی مخزومی نه چه صحابی دے) هغوی وائی چه هر کله ابو طالب بن عبد المطلب (د رسول الله ﷺ حقیقی ترۀ او پرورش کونکے) وفات کیدو نو رسول الله ﷺ د هغۀ خواته تشریف راورو. نو هلته ابوجهل (عمرو بن هشام) او عبد الله بن ابی اُمیه بن مغیره لره ئے ناست اولیدل رسول الله ﷺ اوفرمایل اے خما ترۀ! تۀ اووایه چه لا اِلٰهَ اِلاَّ الله په یوه کلمه کښې به د الله سره دد ے گواه شم ستا دپاره (یعنی خدائے عزوجل ته به د قیامت په ورځ عرض اوکړم چه ابو طالب مؤحد وو. او دۀ لره د جهنم نه خلاصے ورکول پکار دی ځکه چه دۀ په آخر وخت کښې د کلمه توحید اقرار کړے وو) ابو جهل او عبد الله بن اُمیه اووے. اے ابو طالب! د عبد المطلب دین پریږدے؟ او رسول الله ﷺ برابر دغه خبره هغۀ ته کوله (یعنی د کلمه توحید د لوستو دپاره دے خواه ابوجهل او عبد الله بن ابی امیه به ورته خپله خبره کوله) تر دے پورے چه ابوطالب آخری چه کومه خبره اوکړه هغه داوه چه زۀ د عبد المطلب په دین باندے یم او انکار ئے اوکړو د لاَ اِلٰهَ اِلاَّ الله د ویلو نه نو رسول الله ﷺ اوفرمایل قسم په خدائے زۀ به ستا دپاره دُعا کوم (د بخشش) د کومے پورے چه منع نۀ وی راغلے. دغه وخت الله پاک دا آیات نازل کړو مَاكَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوٓا الخ یعنی نبی لره او نورو مسلمانانو لره صحیح نۀ دی چه د مشرکانو دپاره دُعا اوکړی اګر چه هغه خپلوئ والا وی هر کله چه معلومه شوه چه هغه جهنمی دے نو بیا الله تعالی د ابوطالب په باره کښې دا ایات نازل کړو او رسول الله ﷺ ته ئے اوفرمایل. اِنَّكَ لاَ تَهْدِىْ مَنْ اَحْبَبْتَ د

وَسَلَّمَ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ وَلٰكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ * القصص ٥٦

آخره پورې. يعني ته په لاره باندې نه شې راوستې چا لره چه اوغواړې ليکن الله پاک په لاره باندې راوستې شي چا لره چه اوغواړي او هغه پوهه دې په هغه خلقو د چا په قسمت کښې چه هدايت دې.[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمِّهِ عِنْدَ الْمَوْتِ قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَبَى فَأَنْزَلَ اللهُ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ الْآيَةَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دې رسول الله ﷺ خپل تره ته د مرګ په وخت اوويې ته لَا إِلٰهَ إِلَّا الله اوواييه نو زۀ به د قيامت په ورځ ستا دپاره ددې ګواه شم. هغه انکار اوکړو نو خدائې پاک دا آيات نازل کړو. إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ د آخر د آيته پورې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ خپل تره ته اوفرمايل. اوواييه

[1] سعيدؒ روايت کوي د خپل پلار مسيبؓ نه چه صحابي دې. دا حديث بخاري او مسلم دواړو روايت کړې دې حالانکه د مسيبؓ نه ددې راوي څوک نشته سوا د هغۀ د خوي سعيد نه نو رد شو د حاکم دا قول چه بخاري او مسلم و حديث داسې روايت کړې نۀ دې چه د هغې راوي يو سړې وي. او شايد مراد د هغې دا دې. چه سوا د صحابي نه نور سړي روايت کونکي کم از کم دوه کسان پکار دي.نووي. نبي ﷺ اووې خپل تره ابوطالب ته هر کله چه د هغۀ د مرګ وخت راغې يعني بيماري نې سخته شوه او د مرګ يقين نې راغې دا مراد نۀ دې چه سکرات نې شروع شو ولې چه د نزع او سکرات په وخت توبه قبوله نۀ ده. الله جل جلاله فرماني وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتّٰى إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْآنَ. يعني نشته دې توبه د هغۀ خلقو دپاره چه هغه ګناه کوي بيا هر کله چه مرګ نې مخې ته راشي نو وائي چه مونږ اوس توبه کړې ده. او ددې دليل چه د ابوطالب سره حضرت ﷺ خبرې اترې کولې او مشرکانو د حضرت ﷺ خلاف هغه ته لمسه کوله. اخر ابوطالب د مشرکانو وينا او منله نو معلومه شوه چه د نزع حالت نۀ وو. قاضي عياض ويلي دي بعضې مُتکلمينو دلته دا معنى کړې ده. چه د نزع حالت په ابوطالب باندې شروع شوې وو او دا صحيح نۀ ده نو ابوطالب دين اسلام لره قبول نۀ کړو. او د خپل قوم ملګرتيائې اوکړه. او جهنم نې اختيار کړو. په السراج الوهاج کښې دي چه په دې حديث کښې دليل دې ددې خبرې چه عبد المطلب هم د کفر په حالت کښې وفات شوې وو. او داسې امام ابوحنيفهؒ په فقهه اکبر کښې صفا ليکلي دي چه ابوطالب په کفر باندې وفات شوې دې. رسول الله ﷺ اوفرمايل قسم په خدائې چه زۀ به ستا دپاره دُعا اوکړم نوويؒ وائي ددې نه معلوميږي چه قسم خوړل خپل په خپله بغير ددې نه چه دووم قسم ورکړي صحيح دې او دا خائې د قسم نه مراد تاکيد يعني پوخ والې مقصود دې. چه زۀ به ستا دپاره ضرور استغفار کوم. او دا هغه.د ابوطالب د خوشحالولو دپاره فرمايلي وو او د هغه وفات په مکه مکرمه کښې د هجرت نه څۀ ورځې وړاندې شوې وو. ابن فارس وائي ابوطالب چه کله وفات شو نو دغه وخت د رسول الله ﷺ عمر شريف تقريبًا يو کم پنځوس کاله اتۀ مياشتې او يوولس ورځې وو. او د ابوطالب دوفات نه درې ورځې وروستو د اُم المؤمنين حضرت خديجې انتقال اوشو. په رسول الله ﷺ باندې د يو غم نه پس دويم غم راغې په دې وجه دغه کال ته عام الحزن ويلې شي امام نووي رحمه الله وائي د مفسرينو په دې خبره باندې اتفاق دې چه دا آيت إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ د ابو طالب په باره کښې نازل شوې دې. زجاج هم په دې باندې اجماع نقل کړې ده.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمِّهِ قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ لَوْلَا أَنْ تُعَيِّرَنِي قُرَيْشٌ يَقُولُونَ إِنَّمَا حَمَلَهُ عَلٰى ذٰلِكَ الْجَزَعُ لَأَقْرَرْتُ بِهَا عَيْنَكَ فَأَنْزَلَ اللهُ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ زۀ به ددے خبرے ستا دپاره د قیامت په ورځ ګواهی ورکړم. هغۀ اووے کۀ چرے قریش خما دپاسه عیب نۀ وے هغوی به وائی چه ابوطالب اوېرېدو یا په هیبت کښ راغے. البته ما به یخے کړے وے ستا سترګے دائے اووے (یعنی تۀ به م خوشحاله کړے وے او د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اقرار به م کړے وو خو د قریشو د خلقو نه ماته شرم راځی هغه به وائی چه ابوطالب داسے بذدل او کمزورے وو چه د مرګ په وخت ئے د ېرے نه خپل دینه بدل کړو) نو الله تعالی دا آیت نازل کړو. اِنَّكَ لَا تَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللهَ یَهْدِیْ مَنْ یَّشَاءُ.

بَابُ الدَّلِيْلِ عَلٰى أَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى التَّوْحِيْدِ دَخَلَ الْجَنَّةَ قَطْعًا

باب: په دے بیان کښ چه کوم سړے د مرګ په وخت په توحید وو هغه به خامخا جنت ته داخلیږی[1]

---

[1] یو نه یو ورځ اګر چه لږے ورځے عذاب به مومی په خپلو نورو ګناهونو باندے. خو هغه همیشه په جهنم کښ نۀ شی پاتے کیدے. نووی رحمه الله وائی د اهل سنت او اهل حق د سلف او خلف نه دا اعتقاد دے چه کوم سړی په توحید باندے مړ شی. هغه به په هر حال کښ جنت ته ځی بیا کۀ چرے د ګناهونو نه پاک وی. لکه نابالغه مجنون چه د بالغ کیدو سره مجنون شوے وی یا هغه صحیح توبه اووسته د ټولو ګناهونو نه او بیا د توبے نه پس ځۀ ګناه نۀ کوی. یا د خدائے د طرفنه دۀ ته د ګناهونو نه د بچ کیدو توفیق ورکړے شوے وی. نو هغه به جنت ته ځی او جهنم ته به بالکل نۀ داخلیږی او دا چه کوم اٰیت دے چه په تاسو کښ ځوک نشته مګر په جهنم به د هغۀ وُرود وی. نو د وُرود نه مراد مُرور دے یعنی په هغے باندے تیریدل او په دوزخ تیریدل خو د ټولو دپاره دی. ولے چه پُل د صراط د جهنم دپاسه دے. الله دِ مونږ د جهنم نه او د ټولو افتونو نه بچ کړی او کۀ چرے دۀ کبیره ګناهونه کړی وی او بغیر د توبے نه مړ شی. نو هغه د الله په مرضئ کښ راګیره دہ. کۀ چرے غواړی نو ددۀ قصور به معاف کړی او دۀ لره به جنت ته داخل کړی او کۀ غواړی نو لږے ورځی به د هغے قصور یعنی ګناه مطابق عذاب ورکړی او بیا به ئے جنت ته بوځی. خو هغه همیشه په جهنم کښ نۀ شی پاتے کیدے. خو کوم بنده چه د توحید په حالت کښ مړ شی هغه چه ځومره ګناه هم اوکړی خو همیشه په جهنم کښ نۀ شی پاتے کیدے. دغه شان هغه سړے چه د کفر په حالت کښ مړ شی همیشه به په جهنم کښ وی. او جنت ته به نۀ شی تلے. دا مختصر بیان دے دا هل حق دعقیدو په دے مسئله کښ اوکتاب اوسنت او اجماع امت دلیل دے د هغه اعتقاد او نصوص متواتره دی په هغه باب کښ چه د هغے نه یقین حاصلیدے شی. بیا چه هر کله دا قاعده ثابته او مقرر شوه نو اوس ځومره حدیث چه وارد وی اګر چه په ظاهر کښ ځۀ ددے قاعدے نه خلاف وی. خو دے لره په دغے قاعده باندے حمل کول پکار دی. ددے دپاره چه په نصوص شرعیه کښ تناقض او تخالُف نه وی. او کۀ خدائے غواړی نو مونږ به د بعضے حدیث تاویل بیان کړو چه د هغے نه به د نورو احادیثو تاویل هم معلوم کړے شی (انتهٰی)

عَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ

د حضرت عثمانؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه کوم بنده مر شی او هغه ته دد دے خبرے یقین وی چه بل ځوک لائق د عبادت نشته سوا د الله جل جلاله نو هغه به جنت ته داخل شی[1]

[1] : نوویؒ وائی قاضی عیاضؒ ویلی دی خلقو اختلاف کړے دے د هغه سړی په باب کښ چه هغه د شهادتینو قائل وی. یعنی د توحید او رسالت لیکن ګنهګار به شی نو مرجیه یوه ګمراه فرقه ده هغه دا وائی چه د ایمان سره څه ګناه ضرر نه شی کولے. او خوارج وائی چه ګناه ضرر کوی او بنده د ګناه په وجه سره کافر کیږی. او معتزله وائی چه کۀ چرے دده ګناه کبیره ګناه دے. نو همیشه به په جهنم کښ وی. او نه به ورته مؤمن ویلے شی نه کافر بلکه فاسق به ورته ویلے کیږی او د اشاعره په نز چه اهل سنت دی دغه بنده مؤمن دے. اوس کۀ چرے دده ګناه او نه بخلے شی او دۀ لره عذاب شی خو همیشه به نه وی یونه یو ورځ به جنت ته داخلیږی. نو دد دے حدیث نه په خوارجو او معتزله رد اغے. او مرجیه چه دد دے حدیث نه کوم دلیل راوړی. دهغے جواب داد ے چه ستاسو مطلب دد ے حدیث نه چرته وتلے شی. په دے ځ لویث کښ خو داده چه مُوَحّد به جنت ته خی بیا کیدے شی چه دهغۀ ګناه اوبخلے شی یا په شفاعت سره د جهنم نه خلاصے بیاموی. یا د ګناه مقدار عذاب او موی او جنت ته لاړ شی. او دا تاویل ضروری دے چه د ډیرو ایاتونو او احادیثونه د ګنهګارو دپاره عذاب خودلے شوے دے. بیا نصوص شریعت یود دویم مطابق کول لازم دی. او څۀ چه نے فرمایلی دی په دے حدیث کښ چه دۀ لره یقین وی د توحید نو رد شو په بعضے جاهل مرجیه چه هغه وائی شهادتینو لره صرف په ژبه سره ویونکے به جنت ته خی اګر کۀ د زړۀ نه نے په دے باندے اعتقاد نه وی. او په دویم حدیث کښ دد ے بل تاکید مروی دے. یعنی دۀ لره شک نشته او دا مزید دے زمونږ د مذهب قاضی عیاضؒ وائی دد ے حدیث نه هغه سړے هم حجت راوړی چه هغه وائی صرف د زړۀ شهادتینو لره پیژندل کافی دی. په ژبه سره ویل ضروری نه دی. مګر د اهل سنتو مذهب داد ے چه په زړۀ سره یقین کول او په ژبه سره اقرار کول دواړه ضروری دی. او د جهنم نه د نجات موندو دپاره یواځے یو کافی نه دے. البته هر کله چه په ژبه کښ څۀ افت وی لکه ویلے نه شی یا ورته مهلت نه وی یعنی د ژبے د وینا نه وړاندے مړ شی نو په زړۀ سره یقین کول کافی دی. او په دے حدیث کښ حجت نشته د هغه سړی چه هغه خلاف کوی د اهل سنت والجماعت. دد ے دپاره چه په دویم حدیث کښ صفا راغلی دی چا چه اووے لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ او چا چه ګواهی ورکړه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ او د معاذ په روایت کښ دی د چا چه آخری خبره لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ شی هغه به جنت ته خی. او په یو روایت کښ دی ځوک چه د الله سره ملاو شی او د هغۀ سره نے چالره شریک نه وی ګرځولے نو هغه به جنت ته خی. او په یو روایت کښ دی یو بنده داسے نشته چه هغه ګواهی ورکړی دد ے خبرے چه د الله نه سوا بل ربښتونے معبود نشته او محمدﷺ د هغۀ بنده او رسول دے مګر حرام به کړی الله هغۀ لره په جهنم باندے. او داسے د عُباده بن صامتؓ او عتبان بن مالک رضی الله عنهما په روایت کښ دی. د عباده په حدیث کښ دومره زیاته ده چه د هغه اعمال هر څنګه چه وی. او د ابوهریره په روایت کښ دی هغه د الله سره ملاو شی او د هغۀ په شهادتینو کښ شک نه وی نو هغه به جنت ته خی. اګر چه زنا اوکړی یا غلا اوکړی دے تولو احادیثو لره مسلم په خپل کتاب کښ نقل کړی دی نو د سلف د یو جماعت نه چه په هغے کښ سعید بن مسیب هم دی دا منقول دے چه دا احادیث دهغه وخت دی چه هر کله نو رفرائض او اوامر او نواهی نه وو. او بعضو ویلی دی دا حدیثونه مجمل دی د شرح محتاج دی او مطلب دد ے داد ے چه د شهادتینو اقرار اوکړی او دد ے حقوق او فرائض تول ادا کړی. او دا قول د حسن بصریؒ هم دے. بعضو ویلی دی چه دا د هغه سړی دپاره دے چه هغه د کفر او شرک نه شرمنده شی دد ے اقرار اوکړی او بیا مړ شی دا قول د بخاریؒ دے او دد ے تولو تاویلاتو ضرورت هغه وخت دے هر کله چه حدیث لره په ظاهره سره اونیسی لیکن هر کله چه خپلے درجے او مرتبے ته نے اورسوی نو تاویل مشکل نه دے لکه چه علماء مُحققینو بیان کړے دے نو ورمیے په دے خبره باندے خان پوهه ول پکار دی چه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسِيرٍ قَالَ فَنَفِدَتْ أَزْوَادُ الْقَوْمِ قَالَ حَتَّى هَمَّ بِنَحْرِ بَعْضِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے مونږ د رسول اللهﷺ سره ملګری وو په یو سفر کښې په جنګ تبوک کښې) نو د خلقو سره توښې ختمې شوے. نو هغهٔ اراده اوکړه د خلقو د بعضے اوښانو د حلالولو. حضرت عمرؓ اووے یا رسول اللهﷺ

د ټولو اهل سنت سلف صالحین او محدثین او فقهاؤ او متکلمینو مذهب داد ے چه ګنهګار د الله په مشیت باندے دی او کوم سړے چه د ایمان په حالت کښې مړ شی او د زړهٔ نه د شهادتینو یقین لری هغه به جنت ته ځی. بیا که چرے دهٔ د ګناهونو نه توبه کړے وی. یا د ګناهونو نه پاک وی. نو هغه به د خپل پروردګار په رحمت سره جنت ته ځی. او په جهنم به حرامیږی. بیا که چرے مونږ دے حدیثو لره په داسے سړو باندے محمول کړو نو مطلب به ښکاره شی او د حسن بصریؒ او د بخاریؒ دغه مراد دے. او که چرے دغه سړے په ګناهونو ککړ وی واجبات ئے پریخے وی یا د حرامو ارتکاب نو هغه د الله په مشیت باندے دے د هغې یقین نهٔ شی کیدے چه هغه به جهنم ته بالکل نهٔ ځی او د اول نه اول جنت ته به ځی. لیکن دا دے یقین دے چه هغه به آخر یوه ورځ جنت ته لاړ شی. او د خدائے تعالی اختیار دے که غواړی دهٔ ګناه به معاف کړی او که غواړی څهٔ ورځې به عذاب ورکړی او بیا به ئے جنت ته بوځی. او ممکنه ده چه ټول احادیث پخپله معنیٰ باندے قائم دی. او جمع به هم شی چه په جنت کښې د تلو نهٔ دا مراد وی چه د جنت استحقاق دهٔ ته شوے وی یا بالفعل په عفوه یا آئنده پس د عذاب نه او د جهنم د حرامیدو نه دا غرض شو چه همیشه جهنم په دهٔ باندے حرام دے. او په دواړو مسئلو کښې د خوارجو او معتزله خلاف دے. او احتمال دے چه حدیث مَنْ كَانَ اٰخِرُ كَلَامِهِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یعنی د چا چه آخری خبره لا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ شوه نو هغه به جنت ته ځی. دا د هغه سړی دپاره ده چه د هغه د ژبے نهٔ د مرګ په وخت دا کلمه اوځی او بیا دد غې کلمې نه پس دویمه خبره اونکړی. اګر که دے وړاندے ئے ګناهونه کړی وی. خو شاید د خاتمه کلام په وجه سره د خدائے په رحمت کښې شامل حال شو او هغه به د جهنم نه بالکل خلاصے اومومی. په خلاف د هغه ګنهګارانو چه د هغوی آخری خبره دا کلمه نهٔ وی. په دے شان باندے کوم چه د عُباده په حدیث کښې دے. چه هغه د جنت په کومه دروازه سره غواړی تلے شی. هغه خاص دے د هغه چا دپاره چه هغه د شهادتینو سره ایمان او د توحید حقیقی سره متصف وی. او د هغې ثواب دومره قدرے شی چه دهٔ د ګناهونو نه زیات شی. او مغفرت او رحمت لره واجب کړی ختم شو کلام د قاضی عیاضؒ او دا زیات ښهٔ دے لیکن د ابن مسیب نه چه کوم تاویل منقول دے هغه ضعیف او باطل دے. دا دے دپاره چه ابوهریرهؓ ډیر ورسته اسلام راوړے وو. په کوم کال چه خیبر فتح شو په هغه کښې او دغه وخت خو ټول احکام شریعت جاری شوی وو. او ټول فرائض لکه مونځ او روژے او زکوٰة فرض شوی وو او حج هم فرض شوے وو. دا دے قول مطابق چه هغه وائی حج په ۶ هجری کښې فرض شوے دے. او شیخ ابن الصّلاح په دے مقام باندے یو بل تاویل بیان کړے دے. هغوی ویلی دی چه شاید دا قصور د راویانو د حفظ او قلت ضبط دوجے نه دے. او د رسول اللهﷺ د طرفه نهٔ دے. هغه خو پوره پوره بیان په نورو احادیثو کښې کړے دے او جائز ده چه دا اختصار رسول اللهﷺ کړے وی د بت پرستو سره په خطاب کولو کښې ولے چه توحید د هغوی دپاره د دین ټولے خبرے لازمی کړے وے او کوم کافر چه د توحید قائل نهٔ وی لکه بت پرست یا پارسی. بیا که هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اووائی او دهٔ هغه حال وی کوم چه پورته مونږ بیان کړو نو حکم به کیږی په دهٔ د اسلام او مونږ به هغه وایو د هغهٔ په حال کښې لکه څنګه چه زمونږ بعضے اصحابو ویلی دی. چه کوم بنده لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اووائی د هغهٔ به د اسلام حکم کیدے شی او بیا به په هغهٔ باندے جبر کولے شی د نورو احکامو قبلولو دپاره دا دے دپاره چه دا دے حل دا را اوځی چه اسلام پوره کولو دپاره په دهٔ باندے جبر اوشی او دهٔ حکم به په مثل د مرتد وی. که چرے هغه باقی احکام په خائے رانهٔ وړی او نفس الامر او د آخرت په احکامو کښې هغه مسلمان نهٔ وی. حالانکه مونږ چه چالره بیان کړو هغه نفس الامر او د آخرت په احکامو کښې مسلمانان دی. والله اعلم نووی)

حَمَائِلِهِمْ قَالَ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ جَمَعْتَ مَا بَقِيَ مِنْ أَزْوَادِ الْقَوْمِ فَدَعَوْتَ اللهَ عَلَيْهَا قَالَ فَفَعَلَ قَالَ فَجَاءَ ذُو الْبُرِّ بِبُرِّهِ وَذُو التَّمْرِ بِتَمْرِهِ قَالَ وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَذُو النَّوَاةِ بِنَوَاهُ قُلْتُ وَمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ بِالنَّوَاةِ قَالَ كَانُوا يَمُصُّونَهُ وَيَشْرَبُونَ عَلَيْهِ الْمَاءَ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهَا حَتَّى مَلَأَ الْقَوْمُ أَزْوِدَتَهُمْ قَالَ فَقَالَ عِنْدَ ذٰلِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ لَا يَلْقَى اللهَ عَزَّوَجَلَّ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فِيهِمَا إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ

پکار ده چه تا جمع کړے وے د خلقو تولے توښے او بيا دِ په هغے باندے د الله نه دُعا کړے وے (دده دپاره چه په دے کښں برکت شی او د تولو دپاره پوره شی) هغه داسے اوکړو نو د چا سره چه غنم وو هغوی غنم راوړل او د چا سره چه کهجورے وے. هغو کهجورے راوړے او د چا سره چه گهټلئ وه هغوی گهټلئ راوړه او راغے. ما اووے په گهټلئ به ئے څۀ کول هغوی اووے هغه به ئے چوپله او بيا به ئے په هغے باندے اوبۀ څکلے. راوی وائی هغه په دے تولو توښو باندے دعا اوکړو. نو خلقو د هغے ډيری نه د خپلے خپلے توښے لوخی ډک کړل په دغه وخت حضرت اوفرمايل چه زۀ گواهی ورکوم دده خبرے چه نشته دے معبود برحق سوا د خدائے پاک نه (هغه رښتونے الله دے نور ټول دروغجن دی) او زۀ د الله رالیږلے شوے رسول یم کوم بنده چه د الله سره ميلاو شی او په دے دواړو خبر کښں دۀ ته شک نۀوی نو هغه جنت ته ځی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَوْ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ شَكَّ الْأَعْمَشُ قَالَ لَمَّا كَانَ غَزْوَةُ تَبُوكَ أَصَابَ النَّاسَ مَجَاعَةٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ

د ابو هريرهؓ يا د ابوسعيدؓ نه روايت دے (دا شک دے اعمش ته چه دده حديث راوی دے) هر کله چه د غزوۂ تبوک وخت راغے (تبوک په شام کښں د يو ځائے نوم دے) نو خلق سخت وږی شو. هغوی اووے يا

---

[1] په حديث کښں حَمَائِلِهِم دے په ځائے حطی سَرَه يا جَمَائِلِهِمْ په جوم سره دواړه منقول دی صاحب تحرير او ابن الصلاح دواړو لره ذکر کړے دے ليکن صاحب د تحرير جمَائِلِهِم په جيم سره اختيار کړے دے. او قاضی عياضؒ په ځائے حطی سره شی شيخ ابو عمر وائی دواړه صحيح دی نو هر کله چه په ځائے حطی سره نو حمائل جمع دہ د حموله يعنی هغه اوښں چه هغه بار کړے شوے وی د سامان وغيره نه او هر کله چه په جيم سره شی نو جمع دہ د جماله او جماله جمع دہ د جمل او جمل اوښں ته وائی. امام نووی دده حديث نه دا ثابته شوه چه مسافرو لره خپله خپله توښه يو ځائے کول او خوړل صحيح دی اگر کۀ څوک کمه اوخوری او څوک زياته او زمونږ د صحابو په تړ دا سنت دی. هر کله چه خلقو د خپلی خپلے توښے لوخی راوړل نو حضرت ﷺ دُعا اوکړه نو په توښه کښں د هغۀ د دُعا په برکت سره دومره سوا والے راغے چه يا خو هغه توښے ختميدو نه تړدے شوے وے. او يا ټولو نه ټول لوخی دوباره بيا ډک شول او اطمينان ورته حاصل شو. دا هم د حضرت محمد ﷺ د مبارکو معجزو نه يوه ښکلی معجزه وه.

لَوْ أَذِنْتَ لَنَا فَنَحَرْنَا نَوَاضِحَنَا فَأَكَلْنَا وَادَّهَنَّا
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
افْعَلُوا قَالَ فَجَاءَ عُمَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ
إِنْ فَعَلْتَ قَلَّ الظَّهْرُ وَلٰكِنِ ادْعُهُمْ بِفَضْلِ
أَزْوَادِهِمْ ثُمَّ ادْعُ اللهَ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالْبَرَكَةِ لَعَلَّ
اللهَ أَنْ يَجْعَلَ فِي ذٰلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ قَالَ فَدَعَا بِنِطَعٍ
فَبَسَطَهُ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ قَالَ فَجَعَلَ
الرَّجُلُ يَجِيءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ قَالَ وَيَجِيءُ الْآخَرُ
بِكَفِّ تَمْرٍ قَالَ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكَسْرَةٍ حَتَّى
اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ مِنْ ذٰلِكَ شَيْءٌ يَسِيرٌ
قَالَ فَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَلَيْهِ بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ قَالَ خُذُوا فِي أَوْعِيَتِكُمْ قَالَ
فَأَخَذُوا فِي أَوْعِيَتِهِمْ حَتَّى مَا تَرَكُوا فِي
الْعَسْكَرِ وِعَاءً إِلَّا مَلَئُوهُ قَالَ فَأَكَلُوا حَتَّى
شَبِعُوا وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا
اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ لَا يَلْقَى اللهَ بِهِمَا عَبْدٌ
غَيْرَ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ

رسول الله! كۀ چرے تاسو موږ ته اجازت كولے نو موږ به خپل اوښان په كومو باندے چه اوبه راوړو حلال كړي وو. حضرت ﷺ اوفرمايل ډيره ښۀ ده حلال كړئ. په دے كښ حضرت عمرؓ راغے او هغۀ اووے يا رسول الله كۀ چرے داسے اوشي نو سورلۍ به كمے شي ليكن تول خلق را اوغواړه چه خپله خپله باقي پاتے توښه زاوړي او را شي. بيا د خدائےؓ نه دعا اوغواړه چه په هغے توښه كښ بركت واچوي. شايد په دے كښ به الله څۀ لار اوباسي؛ (يعني بركت او بهتري به پكښ پيدا كړي) رسول الله ﷺ اوفرمايل ښۀ ده. بيائے يو دسترخوان رااوغوښتو او هغه ئے اوغوړ وو او د ټولو بچ شوے توښه ئے رااوغوښته. چا د موټي مقدار جُوار راوړل چا د موټي مقدار كهجورے راوړے چا د ډوډۍ ټكړه ترد ے پورے چه ټولو په جمع سره په دسترخوان باندے راجمع كړه بيا رسول الله ﷺ دپاره د بركت دعا اوكړه. د دے نه پس ئے بيا هغوي ته اوفرمايل. چه خپل خپل لوښي د توښے نه ډك كړئ. نو ټولو خپل خپل لوښي د توښے نه ډك كړل تر دے پورے چه په لښكر كښ يو لوښے هم خالي پاتے نۀ شو. بيا ټولو خوراك شروع كړو او ماړۀ شو. په هغے كښ هم څۀ بچ پاتے شو. بيا رسول الله ﷺ اوفرمايل. زۀ ګواهي وركوم د دے خبرے چه نشته دے ربښتونے معبود سوا د اللهؓ نه. او زۀ د الله تعالى رالیږلے شوے يم كوم سړے چه په دے دواړو خبرو باندے يقين اوكړي او د الله سره ملاو شي هغه به د جنت نه محروم نۀ شي[1].

[1] دار قطني د دے حديث په اسناد كښ طعن كړے ے چه په دے كښ د اعمش نه اختلاف دے او كله د اعمش نه كله عَنْ أبي صالح عَن جابر روايت كړے شوے دے خو د حديث په صحت كښ دا طعن څۀ اعتراض نۀ كوي د دے دپاره چه اعمش ته د صحابي په نوم كښ شك دے. او صحابه ټول ثقه دي. نووي وائي چه هر كله يو راوي نوم واخلي او داسے اووائي چه ما ته فلاني يا فلاني حديث

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللهِ وَابْنُ أَمَتِهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ وَأَنَّ الْجَنَّةَ حَقٌّ وَأَنَّ النَّارَ حَقٌّ أَدْخَلَهُ اللهُ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ شَاءَ

دعباده بن صامت ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلی دی چه کوم سړے اووائی چه زهٔ گواهی ورکوم ددے خبرے چه نشته دے ربښتونے معبود سوا د الله نه هغه یو دے شریک نهٔ لری. او حضرت محمد ﷺ د هغهٔ بنده او رالیږلے شوے دے. او حضرت عیسیٰ ؑ د الله بنده دے. او د هغهٔ د وینځے (مریم) خوی دے او د هغهٔ د خبرے نه پیدا شوے چه هغهٔ په مریم کښې اچولے وه (یعنی حکم ئے اوکړو په کُن سره بیا هغه شو بغیر د پلار نه) او رحمت دے د الله یا روح دے د الله (یعنی حضرت عیسیٰ ؑ ته روح الله وائی. ددے دپاره چه الله جل جلاله د هغهٔ روح پیدا کړو اګر چه ټول روحونه خدائے پاک پیدا کوی خو د عیسیٰ علیه السلام روح ډیر عزتمند او لوئ شان والا دے ددے وجے نه د خدائے په طرف نسبت ورکړے شو. لکه خانه کعبے ته چه بیت الله وائی) او بیشکه جنت حق دے او جهنم حق دے. نو داخل به کړی الله پاک دهٔ لره په آتو دروازو د جنت باندے چه کومه ددهٔ خوښه شی[1].

بیان کړے دے. او هغه دواړه ثقه دی. نو روایت بلا خلافه حجت دے. ددے دپاره چه غرض داد ے. چه روایت د ثقه نه وی او هغه حاصل دے. دے قاعدے لره خطیب بغدادی ؒ په "کفایه" کښې او نورو خلقو بیان کړے ده او دا په غیر صحابه کښې دے. نو په صحابه کښې خو په طریق اولی به وی ددے دپاره چه صحابه کرام رضی الله عنهم ټول عادلان دی. بیا د راوی په تعیین نه کولو سره مقصود نهٔ فوت کیږی. صحابه رضی الله عنهم د سختے لوږے د وجے نه خواهش ظاهر کړو. چه کاش! کهٔ چرے حضرت محمد ﷺ مونږ ته اجازت راکولے نو مونږ به خپل د اُوبو راوړو اوښان حلال کړی وو. دا یوه ښکلے طریقه ده د ادب په خاطر د سوال کولو او ددے نه معلومه شوه چه د لښکر خلقو لره خپل خناور کوم چه په جنګ کښې مدد ورکوی حلالول او خوړل صحیح نهٔ دی د کومے پورے چه امام اجازت ورنهٔ کړی (السراج الوهاج) حضور ﷺ اوفرمایل چه ښهٔ ده خپل اوښان ذبحه کړئ. په دے کښې حضرت عمر راغله. او نبی کریم ﷺ ته ئے اووے کهٔ چرے داسے اوشوه نو سورلئ به کمے شی. ددے نه دا معلومه شوه چه د امام او بادشاه په حکم کښې اعتراض کول جائز دی. او کمے درجے والا ته دا حق شته دے چه د وختی مصلحت په مطابق د لوئے درجے والا ته ښکلے مشوره ورکړی او د هغه د حکم د منسوخ کولو دپاره اووائی.

[1] نووی رحمه الله وائی چه دا حدیث په عقائدو کښې ډیر ښکلے حدیث دے. چه د ټولو ضروری خبرو جامع دے. او ددے نه په اختصار سره د ټول کفر د دینونو رد کیږی. بعضے خلق زمونږ په زمانه کښې دا شبه کوی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام بغیر د پلار نه

عَنِ الصُّنَابِحِيِّ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّهُ قَالَ دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ فَبَكَيْتُ فَقَالَ مَهْلاً لِمَ تَبْكِي فَوَاللهِ لَئِنِ اسْتُشْهِدْتُ لأَشْهَدَنَّ لَكَ وَلَئِنْ شُفِّعْتُ لأَشْفَعَنَّ لَكَ وَلَئِنِ اسْتَطَعْتُ لأَنْفَعَنَّكَ ثُمَّ قَالَ وَاللهِ مَا مِنْ حَدِيثٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكُمْ فِيهِ خَيْرٌ إِلاَّ حَدَّثْتُكُمُوهُ إِلاَّ حَدِيثًا وَاحِدًا وَسَوْفَ أُحَدِّثُكُمُوهُ الْيَوْمَ وَقَدْ أُحِيطَ بِنَفْسِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د صنابحي نه روایت دے زۀ د عباده بن صامت خواله لاړم. هو مرګ ته نژدے وو. هغوی ماته مهلت راکړو، (یعنی ماته په خبرے کولو کښې ولے ژاړے؟ قسم په خدائے کچرے زۀ ګواه جوړ کړےشوم نو ستا د پاره (د ایمان ګواهي ورکوم او کچرے خما سفارش پکار راځی نو ستا سفارش به کوم او کچرے خما طاقت راغی نو تا ته به فائده درکوم. بیا نے اووے په خدائے قسم هیڅ یو حدیث ما د رسول الله ﷺ نه نۀ دے اوریدلے، چه په هغے کښې ستا ښۀ والے وو مګر ما هغه تا ته بیان کړو البته یو حدیث ما تراوسه بیان کړے نۀ دے هغه نن بیانوم ځکه چه خما خان تلو والا دے. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی حضرت ﷺ فرمائیل کوم سړے چه ګواهي ورکړی (یعنی په د زړۀ نه یقین اوکړی او په ژبه اقرار) چه الله نه سوا ربنتونے معبود نشته او بے شکه حضرت محمد

ځکه پیدا شو. حالانکه د فطرت د قاعدے نه او اصول حکمت نه داخبره محال معلومیږی. د هغے جواب دادے چه نۀ عالم لره قدیم ګنړے یا حادث. کۀ چرے حادث ګنړے نو په ابتداء آفرینش کښې د نوع انسان ظهور د یو ورمبنی انسان نه شوے وی چه نۀ ئے پلار لرۀ نۀ مور بیا چه هر کله خدائے پاک بغیر مور او پلاره یو سړے پیدا کړو نو بغیر د پلاره نه پیدا کول د هغۀ په تر ولے ګرانه دہ. او کۀ چرے قدیم ئے ګنړے نو د قدیم نه دا مراد نۀ دے چه عالم په دے شان په وضع خاص قدیم دے. ولے چه په اوضاع او اطوار کښې همیشه تغیر کیږی او راځی. بلکه په دے بنا باندے د کُرات کُرات متفرق او ګډ وډ کیدے شی. او د هغے اجزاء بیا دوباره یو ځائے شی او بیا نوے کُرۀ ظاهره کړی. ددے وجے نه د ابی قورِ او دیوجانس او د فلاسفه یو جماعت چه د قدیم عالم قائل وو دا لیکلی دی چه اوائل ترکیب په زمکه کښې د زمکے نه اعلی اعلی قسم جاندار لکه انسان او چارپایان خپل پخپله پیدا کول. آخر ډیره زمانه پس د زمکے قوت کمیدو کمیدو سره اوس دا نوبت رارسیدلے دے چه سوا د بوټو نه او کم درجه حیواناتو لکه منګکان ګونس چینجی مینجی وغیره د ښۀ قسم جاندار د زمکے نه خپل پخپله پیدا کیږی.

بیا چه کوم خدائے په زمکه کښې دا طاقت ایخودے دے چه بنیادم او ټول قسم ځناور په دے کښې پیدا کوی، دۀ په تر پخپله په انسانانو کښې یو د بل انسان پیدا کول ګران دی نۀ د عقل خلاف دی او حیرانتیا دہ چه دغه د حضرت عیسیٰ لره بغیر د پلار نه منونکے خلق په عقل او فلسفے یقین کوی او د حکیمانو او فلسفیانو ګډے وډے هم منی. او د قرآن او حدیث په ربنتونو، او قیاس ته نژدے خبرو کښې شک کوی. پخپله د حکیم او فلسفی انسان ابتدائی خلقت او د عالم په ابتدائی افرینش کښې دومره قدرے اختلاف لری چه د یو بل خیال لره لغوه او باطل ګنړی.

وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ النَّارَ

(ﷺ د الله رسول دے نو الله تعالی به په دهٔ جهنم حرام کړی (یعنی همیشه په جهنم کښې اوسیدل یا جهنم هغه طبقے لره چه په هغے کښې همیشه اوسیدونکی کافر به غورځولے شی)[1].

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلَّا مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَارَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَارَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَارَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ قَالَ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ

د معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دے چه زهٔ په سورلۍ باندے د رسول الله ﷺ سره شاته ناست وم. خما او د هغهٔ په مینځ کښې سوا د کجاوے د ورستنی لرګی نه نور څهٔ نهٔ وو. حضرت ﷺ اوفرمایل اے معاذ بن جبل! ما عرض اوکړو حاضر یم ستا په خدمت کښې اوفرمانبردار یم یا رسول الله ﷺ. بیا چه څهٔ لږ وخت لاړو نو د هغے نه پس ئے اوفرمایل اے معاذ بن جبل! ما عرض اوکړو یا رسول الله فرمانبردار او ستا په خدمت کښې حاضر یم. بیا روان وو او څهٔ لږ خائے وړاندے ئے بیا او فرمایل اے معاذ بن جبل! ما اووے یا رسول الله ﷺ فرمانبردار او ستا په خدمت کښې حاضر یم. حضرت ﷺ اووے تاته پته شته دے چه د الله ج حق په بندیګانو باندے څهٔ دے؟ ما اووے الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهه دی. حضرت ﷺ

[1] (د صنابحی نه رایت دے) صنابحی د صنابح په طرف نسبت دے چه د قبیله مراد یو شاخ دے او نوم د دوی ابوعبدالرّحمن بن عُسیله دے نووی وائی دے جلیل القدر تابعی وو، دے د رسول الله ﷺ سره د میلادو د پاره تلو. دے په لار کښې په جحفه کښې وو چه د حضرت ﷺ وفات اوشو. د حضرت ﷺ د وفات پنځو یا شپږ ورځے پس مدینے ته رااورسیدهٔ. او د ابوبکر او د ډیرو صحابو سره میلاؤ شو او روایتونه ئے ترے اوکړل په "تقریب" کښې دی چه د عبد الملک په خلافت دوی وفات شو. نووی وائی غصه نشته دے دے صنابحی لره صنابح بن اعسر ګنړی حالانکه صنابح بن اعسر صحابی دے.

عباده بن صامت صنابحی ته قسم اوخوړو چه هیڅ یو حدیث ما د رسول الله ﷺ نهٔ دے اوریدلے په کوم یو کښې چه ستا ښهٔ والے وو مګر ما هغه تا ته بیان کړو. قاضی عیاض وئیلی دی ددے نه معلومه شوه چه هغوی هغه احدیث پټ کړل د کومو په بیانولو کښې هغوی ته نقصان موندل معلومیدل، خکه چه د هر یو سړی دومره عقل نهٔ دے چه د هر حدیث مطلب اوپیژنی او په هغے کښې د څهٔ عمل کولو خبره نهٔ وی نه پکښې څهٔ حد وی د شریعت د حدودو نه. او داسے ډیرو صحابو کړی دی چه بے ضرورته ئے حدیث نهٔ دے بیان کړے یا هغه حدیث لره چه په هغے کښې په خلقو کښې د فساد د خوریدو یره وه ددے وجه نه چه ددے د پوهے نه ددوی عقل کمزورے وو دغسے حدیثونه چه د منافقانو په بیان کښې یا د قیامت په علاماتو کښې یا د یو قوم په بدو صفتونو کښې یا د هغوی په مذمت او لعنت کښې وو (نووی)

أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً قَالَ يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ إِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ قَالَ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ

اوفرمایل د الله حق په بندیګانو باندے دادے چه د هغهٔ عبادت اوکړي. او د هغهٔ سره څوک شریک اونهٔ ګرځوي. بیا څهٔ لږ مخکښې چه لاړو نو اوے فرمایل اے معاذ بن جبل! ما اووے یا رسول الله ﷺ ستا په خدمت کښې حاضر یم او ستا فرمانبردار یم. حضرت ﷺ اوفرمایل تا ته پته شته چه د بندیګانو په الله پاک باندے څهٔ حق دے (هر کله چه بندیګان داکار اوکړي یعنی د هغهٔ عبادت اوکړي او چالره د هغهٔ سره شریک نهٔ کړي) ما اووے الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږي. حضرت ﷺ اوفرمایل هغه حق دادے چه الله دوی لره عذاب نکړي[1].

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عُفَيْرٌ قَالَ فَقَالَ يَا مُعَاذُ تَدْرِي مَا حَقُّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ قَالَ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ

د معاذ بن جبل نه روایت دے چه زهٔ د رسول الله سره په خر باندے سور وم چه د هغهٔ نوم "عُفَیر" وو. حضرت ﷺ اوفرمایل اے معاذ! تا ته پته شته چه د الله په بندیګانو باندے څهٔ حق دے. او د بندیګانو په الله باندے حق څهٔ دے؟ ما وے الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږي. حضرت ﷺ اوفرمایل د الله تعالیٰ حق په بندیګانو باندے دادے چه د هغهٔ عبادت کوي او هغه لره د چا سره شریک نهٔ کړي. او دبندیګانو حق

[1] صاحب "تحریر" وائي حق ویلی شي هر موجود لره چه اوموندے شي یا د هغې موندل په راتلونکي وخت کښې ضروري وي. او الله سبحانه حق دے موجود دے ازلي دے باقي دے ابدي دے مرګ او قیامت او جنت او اُور حق دي ولے معنی هغه ضروري موندے شي او وي به. او رښتونے خبرے ته هم حق ویلے شي یعنی هغه موندلے شوے او د هغې وجود دے دغه شان حق واجب او لازم کار ته هم ویلے شي. چه په هغې کښې اختیار نهٔ وي. لکه فرائض د الله چه د هغې کول لازم دي یا د چا قرض چه د هغې ادا کول لازم دي. یا بل څهٔ حق د حقوقو نه نو هر کله چه دا اووائي چه د الله حق په بنده باندے نو دد ے معانے دادي. چه هغه د الله دپاره په بنده باندے کول لازم او واجب دي. او هر کله چه دا اووائي د بندیګانو حق په الله باندے نو هلته د حق نه مراد د هغې تحقق دے. یعنی هغه به ضرور موندلے شي دا نهٔ چه په الله باندے واجب یا فرض دے ولے چه په الله جل جلاله باندے څهٔ کار واجب او لازم نهٔ دے او نهٔ څوک په هغهٔ باندے څهٔ کار واجبولے شي هغه پخپله بادشاه دے مالک دے صاحب دے د ټول جهان څهٔ چه غواړي کوي څهٔ چه نهٔ غواړي نهٔ کوي خو د خپلے وعدے او قول رښتونے دے. د هغه خبره حصاریدونکے نهٔ وي هغه چه څنګه اوفرمایل دغه شان به د هغهٔ نیک بندګان جنت ته ضرور خي لیکن کهٔ هغه اوغواړي نو نیکان هم په دوزخ کښې اچولے شي. د چا څهٔ مجال دے چه هغه ته څهٔ اووائي.

يعبدوا الله ولا يشركوا به شيئا وحق العباد على الله عز وجل أن لا يعذب من لا يشرك به شيئا قال قلت يا رسول الله أفلا أبشر الناس قال لا تبشرهم فيتكلوا

به الله بلنے دادے چه کوم سړے شرک نه کوی الله هغه لره عذاب نه ورکوی ما اووے یا رسول الله ﷺ زه زیرے ورنه کړم خلقو لره ددے په اوریدو حضرت اوفرمائل مه اوروه داسے نه وی چه هغه په دے بلندے اعتمام اوکړی اوکینی[1]

عن معاذ بن جبل قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يا معاذ أتدرى ما حق الله على العباد قال الله ورسوله أعلم قال أن يعبد الله ولا يشرك به شيء قال أتدرى ما حقهم عليه إذا فعلوا ذلك فقال الله ورسوله أعلم قال أن لا يعذبهم

د معاذ بن جبل ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی اے معاذ ته پیژنے چه د الله حق په بندیګانو باندے څۀ دے؟ هغوی اووے الله او د هغۀ رول ښۀ پوهه دی حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه حق دادے چه عبادت کوی د الله پاک او د هغۀ سره څوک شریک نه ګرځوی بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل تاته پته شته چه د بندیګانو حق په الله څۀ دے؟ ما اووے الله او د هغۀ رسول ښۀ پوهه دے حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه حق دادے چه الله به دوی لره عذاب ورنکړی (یعنی د همیشه عذاب لکه چه مشرکانو ته به وی[2])

عن أبي هريرة قال كنا قعودا حول رسول الله صلى الله عليه وسلم معنا

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ نه چاپیره ناست وو او زمونږ سره ابوبکر ؓ او عمر ؓ هم وو په نورو سړو کښې په دے کښې رسول

---

[1] عُفیر په پیښ د عین مهمله او په زیر د فاء موحده دا صحیح دے او دا په معتبرو نسخو کښې دے. او قاضی عیاض رحمه الله چه هغه دے لره په غین معجمه سره ویلے دے هغه متروک دے. نووی رحمه وائی دا هغه خر وو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سورلۍ وو بعضو ویلی دی هغه په حجة الوداع کښې مړ وو. او ددے حدیث نه معلومیږی چه دا واقعه د دویم وارده او په وړمبی حدیث کښې چه کومه ذکر ده هغه د بل وار ده ددے دپاره چه په وړمبی حدیث کښې د کجاوے ذکر دے او کجاوے په اوښ باندے وی او احتمال دے چه یوه واقعه وی او د وړمبی حدیث مطلب داوی چه خما او د حضرت ﷺ په مینځ کښې صرف دومره فاصله وه لکه د کجاوے د لرګی همره (حضرت معاذ بن جبل ته اوفرمایل چه خلقو ته زیرے مۀ ورکوه داسے نه وی چه هغه په دے زیری باندے اعتماد اوکړی او کینی بیا نور د نیکۍ کار کول او د ګناهونو نه بچ کیدل پریږدی، اګر چه توحید د خلاصی دپاره پوره دے خو د جهنم نه بالکل د محفوظه اوسیدو دپاره او په جنت کښې د اعلی درجے د موندو دپاره اعمال صالحه کول او د بدو کارونو نه بچ کیدل ضروری دی

[2] او په بعضو نسخو کښې شیئا دے په نصب سره نو ترجمه به داوی چه د الله عبادت به کوی او چا لره به د هغۀ سره شریک نه ګرځوی

أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فِي نَفَرٍ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا وَفَزِعْنَا فَقُمْنَا فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطًا لِلْأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَابًا فَلَمْ أَجِدْ فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ وَالرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَا شَأْنُكَ قُلْتُ كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا فَفَزِعْنَا فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَأَتَيْتُ هَذَا الْحَائِطَ فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ وَهَؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَائِي فَقَالَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ فَقَالَ اذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ فَمَنْ لَقِيتَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ

اللهﷺ پاسیدو (او بهر ته ئے تشریف یوړو) بیا زمونږ خواله په واپس راتلو کښې هغه ډیر وخت تیر کړو. نو زمونږ سره یره شوه چه چرته دشمن یواخے اوموندو او شهید ئے کړو. مونږ اوېریدو او پاسیدو. د ټولو نه اول زهٔ اوېریدم او د هغے په لټون کښې بهر راووتم او د بنی نجار دباغ خواته اورسیدم (بنی نجار په انصارو کښې یوه قبیله وه) د هغے باغ نه چاپیره اوګرځیدم چه کهٔ ماته دروازه ملاو شی او باغ ته دننه لاړ شوولے چه شاید رسول اللهﷺ دے باغ ته دننه تشریف وړے وی) دروازه راته ملاو نهٔ شوه (شاید په دے باغ کښې دروازه نهٔ وه یا وه خو ابوهریرهؓ د یرے په وجه لیدلی نهٔ وی) چه اومے کتل نو بهر دکوهی نه د اُوبو یو نختی باغ ته دننه شوے وو. زهٔ لکه د ګیدړ په شان په دغه نالئ کښې په خویدو خویدو سره باغ ته ننوتم او رسول اللهﷺ ته اورسیدم. حضرتﷺ اوفرمایل ابوهریره! ما اووے آو یا رسول اللهﷺ حضرتﷺ اوفرمایل ستا څهٔ حال دے. ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ ته په مونږ خلقو کښې تشریف فرما وے بیا تا تشریف یوړو. او ډیر وخت اوشو چه تهٔ رانغلے. نو زمونږ سره یره شوه چه چرته دشمن ئے ځانله او نهٔ مومی او تنګ ئے نهٔ کړی. مونږ اوېریدو او د ټولو نه مخکښې زهٔ اوېریدم پاسیدم او د دے باغ خواله راغلم (دروازه راته ملاو نهٔ شوه) نو په دے شان م ځان راغونډ کړو او راننوتم لکه څنګه چه ګیدړ خپل ځان راغونډ کړی او ننوځی او ټول خلق ما پسے شاته راروان دی. حضرتﷺ اووے! اے ابوهریره او رائے کړو ماته خپل پېزار (د نخښے دپاره چه نور خلق د ابوهریره خبره رښتیا اوګڼړی) او اوئے فرمایل څما دا دواړه پېزار واخله او ځه او څوک چه تاته د دے باغ نه رسځو ملاویږی او هغه د دے خبرے ګواهی ورکوی چه د

فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيتُ عُمَرُ فَقَالَ مَا هَاتَانِ النَّعْلَانِ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ هَاتَانِ نَعْلَا رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَنِي بِهِمَا مَنْ لَقِيتُ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ فَضَرَبَ عُمَرُ بِيَدِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَخَرَرْتُ لِاسْتِي فَقَالَ ارْجِعْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْهَشْتُ بُكَاءً وَرَكِبَنِي عُمَرُ فَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قُلْتُ لَقِيتُ عُمَرَ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي بَعَثْتَنِي بِهِ فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَيَّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاسْتِي قَالَ ارْجِعْ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ يَا عُمَرُ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَبَعَثْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ بِنَعْلَيْكَ مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ فَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَتَّكِلَ النَّاسُ عَلَيْهَا فَخَلِّهِمْ يَعْمَلُونَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

خدائے نه سوا بل معبودِ برحق نشته دے او په دے خبره باندے د زړۀ نه یقین لری نو هغوی ته د جنت د تلو زیرے ورکړه (ابوهریرهؓ وائی ما پیزار راواخستو او رارروان شوم) د ټولو نه مخکښې د عمرؓ سره ملاو شوم. هغوی تپوس اوکړو اے ابوهریره دا پیزار د چا دے؟ ما اووے دا د رسول الله ﷺ پیزار دے. هغه دا راکړل او زۀ ئے رااولیږلم چه زۀ د چا سره ملاو شم او هغه ګواهی ورکوی د لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله او په زړۀ سره یقین کوی چه هغه له د جنت زیرے ورکړم. ددے په اوریدو سره عمرؓ ماله د لاس په سوک سره د سینے په مینځ کښې یو ګذار راکړو. چه زۀ شاته د کُناټو په سر اولویدم. بیائے اووے اے ابوهریره ! د رسول الله ﷺ خواته واپس شه پس واپس شوم زۀ رسول الله ﷺ ته او ژړا له راغلے وم. چه خما سره ورستو عمر هم رااورسیدو. رسول الله ﷺ اوفرمایل اے ابوهریره دا تاله څۀ شوی دی. ما اووے زۀ د عمرؓ سره ملاو شوم او کوم پیغام چه تا ماته راکړے او لیږلے دِ وم هغه م ورته اورَسَوو. هغه ماته د سینے په مینځ کښې دومره سخت ګزار راکړو چه زۀ ئے واپس د ګُناټو په سر باندے اوغورځولم او راته ئے اووے واپس شه رسول الله ﷺ حضرت عمرؓ ته اووے تاولے داسے اوکړو. هغوی عرض اوکړو یا رسول الله خما پلار او مور دِ تا نه قربان شی. ابوهریرهؓ ګه چه تا پیزار ورکړے او رالیږلے وو چه کوم سړے ستا سره ملاو شی او هغه د زړۀ په یقین سره د لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله ګواهی ورکړی نو هغۀ ته د جنت د تلو زیرے ورکړه حضرت ﷺ اوفرمایل آو. حضرت عمرؓ اووے خما مور او پلار دِ تانه قربان وی داسے مۀ کوه ولے چه زۀ یریږم چه خلق به په دے باندے تکیه اوکړی اوکینی به. دوی ته عمل کول ورکړه. رسول الله ﷺ اوفرمایل بنۀ ده دوی په

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَلِّهِمْ
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَدِيفُهُ عَلَى الرَّحْلِ قَالَ يَا
مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ يَا
مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ يَا
مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ مَا
مِنْ عَبْدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ

عمل کولو کښې پریده[1].
د انس بن مالک نه روایت دے چه معاذ بن جبل د حضرت ﷺ سره په
سورلۍ ناست وو. حضرت ﷺ اوفرمایل اے معاذ! هغوی اووے زهٔ ستا
په خدمت کښې حاضر او فرمانبرداریم یا رسول الله. هغه بیا اوفرمائیل
اے معاذ! هغوی اووے حاضر یم یا رسول الله او فرمانبرداري ستا.
حضرت ﷺ بیا اوفرمائیل اے معاذ! هغوی اووے حاضر یم یا رسول
الله او فرمانبرداریم ستا. هغهٔ اوفرمائیل چه کوم بنده گواهي ورکړي

---

[1] حضرت ابوهریره اولیدل چه یوه نالۍ د خارجه کوهي نه باغ ته دننه تلے ده. نو د خارجه کوهي صفت دے. او بعضے وائي چه خارجه د یو سړي نوم دے نو ترجمه به داشي چه د خارجه د کوهي نه یعني د اوبو هغه نالۍ د خارجه د کوهي نه راغلے وه. ابوهریره وائي چه هر کله ما د نبي علیه السلام د خوشخبرۍ هغه پیغام حضرت عمر ته واورو نو حضرت عمرماته د سینې په مینځ کښې یو ذاسے ... راکړو چه زهٔ واپس د گناتو په سر باندے اوغورزیدم د دے نه د حضرت عمر دا اراده نهٔ وه چه زهٔ د ابوهریره اوغورځوم او یا د ورته ضرر اورسوم بلکه هغه لره د دے کار نه راارول مقصود وو او په لاس نے په سینه باندے د دے دپاره اووهو چه دهٔ ته تنبیهه اوشي او د دے وینا نه راواوړي. قاضي عیاض وغیره ویلي دي چه د حضرت عمر دا فعل په طور د اعتراض نه وو په رسول الله ﷺ باندے ولے چه د ابوهریره په سوال جواب کښې سوا د امت د خوشحالولو نه بله څهٔ بده خبره نه وه مگر حضرت عمر داسے خبر لره خورول د مصلحت نه خلاف اوگنړل ولے چه هغه وخت په دین کښې د سعي او کوشش وو او ټول احکام الهي په خانے رااوړل خاص کر جهاد وغیره د ترقۍ د دین دپاره ډیر زیات ضروري وو او کهٔ چرے دا خوشخبري ټولو ته رسیدلے وے نو احتمال وو چه ډیرو خلقو ځان ته اساني کړے وے او په دغے خوشخبرۍ باندے اعتماد کړے وے او سست شوے وے. او په دے وجه حضرت عمر د ابوهریره سره راغے او حضرت ﷺ ته نے دا مصلحت بیان کړو حضرت ﷺ د دوی رائ لره صحیح اوگنړله او په هغے باندے نے عمل اوکړو او د دے حدیث نه معلومه شوه چه رعیت د امام په حکم باندے اعتراض کولے شي او امام له پکار دي چه یا خو د دے اعتراض معقول جواب ورکړي او رعیت لره خاموش کړي او یا خپل حکم موقوف کړي (نووي). نووي وائي چه دا حدیث په ډیرو فاندو باندے مشتمل دے یو د عالم کیناستل د خلقو د پوهه کولو او د دین د خبروا ایزد کولو دپاره دویم غیر ملک ته دننه تلل بغیر د هغوی د اجازت نه صحیح دي هر کله چه یقین وي د دے خبرے چه هغه به نهٔ خفه کیږي ولے چه ابوهریره باغ ته دننه لاړو او حضرت ﷺ منع هم نهٔ کړو بلکه جائز دي د بل د وسلے نه فائده اخستل او د بل غلّه خوړل او د هغهٔ په څناور باندے سورلي کول او خوراک خپل کورته وړل او د دے په مثل نورے خبرے چه هغه په دهٔ نهٔ گرانیږي لیکن روپۍ پیسے اخستل صحیح نهٔ دي چه هغه بد لگي دا ټول په دے صورت کښې دي چه د هغهٔ د رضا مندۍ یقین وي او کوم چه شک وي نو بغیر د اجازے نه تصرف صحیح نهٔ دے دریم امام خپله نبسه ورکول او چالره لیږل څلورم بعضے د دین خبرے پټول په نظر د مصلحت یا د یرے د فساد پنځم د تابع اعتراض کول په متبوع باندے او د تابع رائے قبلول خو کهٔ رائے صحیح وي شپږم دا قول صحیح کیدل چه خما پلار مور د بتا باندے قربان وي او بعضے سلف د دے لرے مکروه کړے دے مگر هغه صحیح نهٔ دے یعني مکروه نهٔ دے

وَرَسُولُهُ إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا أُخْبِرُ بِهَا النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا قَالَ إِذًا يَتَّكِلُوا فَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا

ددې خبرې چه د خدائې نه سوا بل ربښتونې معبود نشته او حضرت محمد ﷺ د هغهٔ بنده او رسول دې. نو الله پاک به حرام کړی دا لره په جهنم باندې. معاذ اووې یا رسول الله ﷺ زهٔ ددې خلقو ته خبر ورکړم چه خوشحاله شي. حضرت ﷺ اوفرمایل. بیا خو به هغه تکیه اوکړی په دې خبره باندې. بیا معاذ رضی الله عنه د ګناه نه د بچ کیدو دپاره د مرګ په وخت دا حدیث بیان کړو [1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ عَنْ عِتْبَانَ بْنِ

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې. هغوی وائی چه ماته حدیث بیان کړې دې محمود بن ربیع او هغهٔ اوریدلی دی د عتبان بن مالک نه محمود

---

[1] ولې چه د علم پټول په دې شان چه هغه ضائع شی منع دی. معاذ رضی الله عنه چه د کومې پورې ژوندې وو نو دا حدیث ضائع کیدې نه شو او هر کله چه ئې د مرګ وخت راغې نو اوویریدو چه دا حدیث به بالکل تلف شی ددې وجې نه هغوی بیان کړو او حضرت ﷺ چه هغه د بیانولو نه منع کړې وو هغه په طور د تحریم نه وو. بلکه په طور د مصلحت وو یا د ممانعت د مشهورولو نه وو. نه خاص خلقو ته د بیانولو نه ګنی معاذ ته به ئې ولې خودلو. شیخ ابن الصلاح وائی چه رسول الله ﷺ معاذ لره د عامې خوشخبرۍ ورکولو نه منع کړې وو ددې یرې نه چه چرته جاهل او بې خبره سړې ددې په اوریدو سره دهوکه او نه خوری او ددې په تکیه باندې نیک عملونه پرې نږدی او پخپله دا حدیث حضور پاک ﷺ هغه خلقو ته اوښودو چه د هغو په دهوکه کښې د پریوتو خطره نه وه. او هغه خاوندان د علم او معرفت وو. لکه معاذ بن جبل نو معاذ هم په دغه لاره باندې تلې دې. هغوی هم خاص خاص سړو ته چه ددې لایق به ئې اوموندو دا حدیث بیان کړې دې او د ابوهریره نه چه کوم دا روایت منقول دې. چه رسول الله ﷺ هغهٔ ته د عامې خوشخبرۍ دپاره ویلی وو نو دا ورمبې رائې وه ددې نه پس رائې بدله شو او رائې ورکول یعنی اجتهاد، رسول الله ﷺ لره هم صحیح وو. لکه څنګه چه نورو مجتهدینو باندې فضیلت دې چه هغه په خطا باندې قائمیدې نه شی. ډیره زر د هغهٔ په وحی سره اصلاح کیږی. په خلاف د نورو مجتهدینو چه هغه په خطا باندې قائمیدې شی. او کوم سړی چه د دین په خبرو کښې د رسول الله ﷺ دپاره اجتهاد جائز کړې نه دې. هغه دا وائی چه شاید ابوهریره ته د عامې خوشخبرۍ دورکولو حکم ورباندې راغلې وی. بیا د حضرت عمر د سوال په وخت دویم حکم راغلې وی چه په هغې سره ورمبې حکم منسوخ شوې وی. نووی وائی چه د رسول الله ﷺ په اجتهاد کښې تفصیل دې. چه هغه مشهور دې. لیکن په دنیاوی أمورو کښې خو هغه بالاتفاق اجتهاد لولو او د دین په خبرو کښې د علماؤ اختلاف دې. اکثر جائز وائی اجتهاد ته د دین په خبرو کښې ولې چه نبی به د خدائې پاک نه تپوس اوکړو او یقین به ئې حاصلولو او بعضې وائی چه د دین په کارونو کښې اجتهاد جائز وو. په نورو خبرو کښې نه بیا کومو علماؤ چه اجتهاد د دین په خبرو کښې جائز کړې دې. هغوی اختلاف کړې دې. چه آیا اجتهاد هغه هم کړې دې یا نه اکثر وائی چه کړې ئې دې او بعضې وائی چه نه ئې دې کړې او بعضو توقف کړې دې په دې مسئله کښې. بیا کوم خلق چه وائی چه اجتهاد ئې کړې دې هغوی اختلاف کړې دې چه خطا د هغهٔ نه کیده یا نه کیده. د محققینو دا قول دې چه خطا د هغهٔ نه نه شوه کیدې او د اکثرو خلقو دا قول دې چه خطا به ترې کیدله خو په هغې خطا به قائم نه پاتې کیدو او دا مقام د هغې د تفصیل نه دې.

مَالِكٍ قَالَ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَلَقِيتُ عِتْبَانَ فَقُلْتُ حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكَ قَالَ أَصَابَنِي فِي بَصَرِي بَعْضُ الشَّيْءِ فَبَعَثْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي أُحِبُّ أَنْ تَأْتِيَنِي فَتُصَلِّيَ فِي مَنْزِلِي فَأَتَّخِذَهُ مُصَلًّى قَالَ فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ شَاءَ اللهُ مِنْ أَصْحَابِهِ فَدَخَلَ وَهُوَ يُصَلِّي فِي مَنْزِلِي وَأَصْحَابُهُ يَتَحَدَّثُونَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ أَسْنَدُوا عُظْمَ ذَلِكَ وَكُبْرَهُ إِلَى مَالِكِ بْنِ دُخْشُمٍ قَالُوا وَدُّوا أَنَّهُ دَعَا عَلَيْهِ فَهَلَكَ وَوَدُّوا أَنَّهُ أَصَابَهُ شَرٌّ فَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ وَقَالَ أَلَيْسَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ قَالُوا إِنَّهُ يَقُولُ ذَلِكَ وَمَا هُوَ فِي قَلْبِهِ قَالَ لَا يَشْهَدُ أَحَدٌ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ فَيَدْخُلَ النَّارَ أَوْ تَطْعَمَهُ قَالَ أَنَسٌ فَأَعْجَبَنِي هَذَا الْحَدِيثُ فَقُلْتُ لِابْنِي اكْتُبْهُ فَكَتَبَهُ

وائی چه زهٔ مدینې ته راغلم نو د عتبان سره ملاو شوم. ما اووے یو حدیث دے چه ماته رارسیدلے دے ستا نه (تهٔ بیان کړه هغې لره) عتبان اووے څما نظر کم شوے وو (په دویم روایت کښې دی چه هغه ړوند شوے وو او شائد ضعف بصارت ترے مراد وی) ما د رسول الله ﷺ په خدمت کښې یو وینا کونکے لیږلے دے چه زهٔ غواړم چه تهٔ څما کور ته تشریف راوړه. او څهٔ ځائے کښې مونځ اوکړه چه زهٔ په هغه ځائے د مانځهٔ ځائے جوړ کړم (یعنی همیشه هلته مونځ کوم او دا درخواست ئے ددے دپاره اوکړو چه په سترګو کښې ئے نقصان ووا و مسجد نبوی ـ ته ورته راتلل ګران وو) نو حضرت ﷺ هلته تشریف راوړو او چالره چه خدائے غوښتل د خپل ملګرو نه ئے هم د ځان سره راوستل. حضرت ﷺ دننه راغے او په مانځهٔ ئے شروع اوکړه او اصحابو ئے په خپلو کښې خبرے اترے کولے (د منافقانو ذکر راغے نو د هغو حال ئے بیانوو او د هغو بدے خبرے او بدعادتو نه ئے ذکر کول) بیا هغوی یو لوئے منافق مالک بن دخشم یا مالک بن دخیشم یا مالک بن دُخشَن یا مالک بن دخیشن یاد کړه او غوښتل ئے چه رسول الله ﷺ ددهٔ په حق کښې بد دُعا اوکړی چه هغه مړ شی او په هغهٔ باندے څهٔ بلا نازله شی (نو معلومه شوه چه بدکارانو د تباه کیدو دپاره ارزو کول بد نهٔ دی) په دے کښې رسول الله ﷺ د مانځهٔ نه فارغ شو او اوئے فرمایل ولے هغه (یعنی مالک بن دخشم) ددے خبرے ګواهي نهٔ ورکوی چه سوا د خدائے نه بل څوک رښتونے معبود نشته او زهٔ د الله رسول یم صحابو عرض اوکړو هغه خو دا خبره په ژبه سره وائی لیکن په زړهٔ کښې یقین نهٔ لری. حضرت ﷺ اوفرمایل چه څوک د لَاَ اِلٰهَ اِلَاّ الله ګواهي ورکړی د

محمد رسول الله سره بيا هغه جهنم ته نه شي تلے. يا هغه به سکروټے نه خوری. انس وائی ماته دا حديث ډير ښهٔ معلوم شو نو خپل خوئ ته مے اووے دا اوليکه نو هغهٔ اوليکهٔ [1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ حَدَّثَنِي عِتْبَانُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّهُ عَمِيَ فَأَرْسَلَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تَعَالَ فَخُطَّ لِي مَسْجِدًا فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَاءَ قَوْمُهُ وَنُعِتَ رَجُلٌ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهُ مَالِكُ بْنُ الدُّخْشُمِ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ

د انس نه روايت دے چه حديث بيان کړو ماته عتبان بن مالک او هغه ړوند شوے وو. نو هغو رسول الله ﷺ ته يو پيغام رسان اوليږو چه ځما کور ته تشريف راوړه او د جماعت يو ځائے راله مقرر کړه. پس رسول الله ﷺ راغے او د هغه خلق راغلل خو يو سړے غائب وو چه هغه ته به ئے مالک بن دخيشم ويلو بيا بيان کړو حديث په دے شان لکه چه مخکښ تير شو سليمٰن بن مُغيره نه [2].

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ

باب: کوم سړے چه د الله په خدايئ د اسلام

---

[1] نووی وائی چه دد ے حديث په اسناد کښ دوه عجيبه خبرے دی يو خو دا چه درے صحابه کرام برابر د يو بل نه روايت کوی هغه انس او عتبان او محمود دی. دويمه دا چه لوئے د وړوکی نه روايت اوکړو. انس لوئے دے د محمود نه په عمر او علم او مرتبه کښ (هغوی يعنی صحابو مالک بن دخشيم ته لوئے منافق اووے) صحابو په نفاق کښ دا سړے په لويه درجه کښ حساب کړو حالانکه دے په بدر کښ شريک وو او په نورو جنګونو کښ او نفاق ددهٔ نه ثابت شوے نه دے بلکه پخپله حضرت ﷺ دهٔ ته مؤمن ويلی دی د بخاری په روايت کښ دی چه هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله صرف د خدائے دپاره وائی

[2] نووی وائی چه دد ے حديث نه ځو خبرے معلومے شوے ځهٔ وړاندے تيرے شوے دی او يوه خبره دا ده چه آثار د صالحينو سره تبرک کول صحيح دی. دويمه دا چه علماء او فضلاء او مشانخو لره د خپلو مريدانو او شاګردانو کور ته تلل او د هغوی سره ملاويدل غوره دی. دريم مفضول لره فاضل ته ځهٔ درخواست کول په ځهٔ مصلحت سره صحيح دی. څلورم د مونځ کونکی په مخکښ خبرے کول صحيح دی کهٔ مونځ کونکی ته ځهٔ حرج نهٔ وی پنځم چه کوم سړے ملاقات له لاړ شی د هغهٔ امامت صحيح دے کهٔ چرے د کور خاوند رضامند وی. شپږم حاکم او امام ته د چا سړی حال بيانول هر کله چه د هغهٔ نه د ضرر يره وی صحيح دی. اووم د حديث ليکل صحيح دی ولے چه انس خپل خوی ته اووے اوليکه دے لره ليکل مستحب دی. او د حديث ليکلو نه ممانعت هم راغلے دے او اجازت هم ممانعت دد ے دپاره دے چه هغه ئے يادوی نهٔ صرف په ليکلو باندے اعتماد لری حالانکه په هغوی کښ د يادولو طاقت وی او اجازت دد ے دپاره دے چه څوک ئے سره د کوشش يادولے نه شی. او بعضو ويلی دی ممانعت هغه وخت وو چه هر کله د حديثو د ملاويدو يره وه د قرآن پاک سره. بيا اجازت اُوشو. او وړاندے په سلف صحابه رضی الله عنهم او تابعينو رحمهم الله کښ اختلاف وو د حديثو په کتابت کښ ليکن ورسته د کتابت په صحيح کيدو باندے د امت اجماع راغله. اتم امام يا عالم لره د خپل ملګری سره د ملاقات دپاره يا د دعوت دپاره تلل يا ملګرے دعوت له بوتلل صحيح دی (انتهی)

رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَإِنِ ارْتَكَبَ الْمَعَاصِيَ الْكَبَائِرَ

په دین او د محمد ﷺ په پیغمبرئ باندے راضی شو هغه مؤمن دے اګر کۀ ګناهونه کبیره ئے کړی وی او کوی

عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا

د عباس بن عبد المطلب رض ره روایت دے هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو د ایمان مزه هغه چا او څکله چه هغه راضی شو د خدائے په خدایئ باندے او د اسلام په دین کیدو باندے او د محمد ﷺ په پیغمبرئ باندے [1].

---

[1] نووی رح نقل کړے د صاحب تحریر نه راضی کیدل یعنی قناعت کول او پوره ګنړل او څۀ نه غوښتل نو د حدیث مطلب دادے چه سوا د خدائے نه بل چا لره طلب نه کړے او سوا د اسلام نه نورو د کفر په لارو باندے روان نۀ شے او د حضرت محمد ﷺ شریعت مطابق او سیږی بیا چه په چا کښې دا صفات وی بیشکه د ایمان حلاوت د هغۀ په زړۀ کښې معلومیږی او هغه د دے مزه څکی. قاضی عیاض رح وائی د مزے څکلو نه مراد دادے چه د دۀ ایمان به صحیح وی او د دۀ زړۀ ته به اطمینان وی په دے واسطه چه هر کله هغه د دے څیزونو نه راضی وی نو دا د دۀ د کمال معرفت او نفاذ بصیرت دلیل دے. او د دے سره به د دۀ زړۀ هم خوشحاله وی د دے دپاره چه کوم سړے د څۀ څیز نه راضی شی نو ټول عبادتونه او اطاعتونه په هغۀ باندے اسانیږی. خکه چه دے مؤمن دے او د دۀ په زړۀ کښې ایمان محکم شوے دے. نو خکه ورله ټول عبادات او اطاعات ډیره زیاته مزه ورکوی په تحفته الاخیار کښې دی چه د خدائے په خدایئ باندے د راضی کیدلو دا نخښه ده چه د هغۀ په قضا او قدر باندے راضی شی په غم او تکلیف او مصیبت کښې د شغۀ شکر ادا کړی او ګیله او شکوه نه کوی او په دین اسلام باندے د راضی کیدو علامت دادے چه د اسلام په احکامو باندے مظبوط شی او د کفر رسومات د خانه چاپیره نه پریږدی او د حضرت محمد ﷺ په پیغمبرئ باندے د راضی کیدو دا پیژنګلو ده چه د حضرت محمد ﷺ په سنتو باندے چلیږی او د بدعت سره دشمنی ساتی او چا ته چه دا خبره حاصله نۀ وی هغه ته د ایمان د مزے خبر نشته (انتهی، مترجم د اوردو کتاب) وائی چه په دے حدیث کښې آنحضرت ﷺ یوے لوئے مرتبے طرفته اشاره کړے ده چه هغه عامو مومنانو او مسلمانانو ته حاصله نۀ ده بیا په دنیا کښې هغوی ته د ایمان خوږوالے او لذت څۀ هم نشته دے. هغه ټول عبادتونه او طاعتونه چه کوی نو د جهنم د یرے نه په نفس باندے زور غور خوی او د دین احکام په خانے راوړل د هغوی په تړ داسے ګران دی لکه درنه ګټه وړل او څۀ محنت کول چه هغه د دۀ زړۀ نۀ غواړی خو د ګیدے په خاطر یا د چا انسان د یرے نه ئے کوی قهر درویش برجانِ درویش. ورمیے هر مسلمان لره په دے شان محنت او ریاضت کول او د نفس بدخواهشات او خان آسانے او آرام طلبئ لره پریخودل پکار دی خو د دے خبرو مزه به په ډیرو وړاندے تلو سره څۀ ورخے پس حاصله شی هر کله چه د دۀ نفس په تکرار د عمل سره یعنی بار بار نیک کار کولو سره د دغه کارونو عادی شی نو دۀ ته بیا په دغه کارونو کښې یو خوند او مزه پیدا کیږی لکه چه انسان ورمیے ورزش کوی یا د ورزش دپاره د لرګی دوه درنے جوړے خوزوی نو خو ورخے پرے ډیرے بدے او بے مزے تیریږی بیا پکښې ورته یوه داسے مزه راشی چه د هغے پریخودل ورته ګران شی او بے د ورزش نه ورته آرام نۀ راخی. دا خو د جسمانی قوت او حرکاتو خوند دے چه د عادت کیدو نه پس بیلیدے نۀ شی. د ایمان چه کوم روحانی خوند او لذت دے د دے مزه او خوند به خومره وی قیاس کول پکار دی خو د دے بیان څنګه کیدے شی. په دے خو هغه څوک پوهیږی چه چا د دے مزه څکلی وی سړے هر کله چه په دنیا کښې د څۀ

بَاب بَيَانِ عَدَدِ شُعَبِ الْإِيمَانِ وَأَفْضَلِهَا وَأَدْنَاهَا وَفَضِيلَةِ الْحَيَاءِ وَكَوْنِهِ مِنَ الْإِيمَانِ

باب : د ايمان د شاخونو بيان كوم يو شاخ افضل دے او كوم يو ادنٰى دے د شرم او حياء فضيلت او ددے په ايمان كښ د داخليدو بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي چه د ايمان څۀ دپاسه اويا ښاخونه دي. او حياء د ايمان يو ښاخ دے[1].

مودے پورے ژوند تيره وي او ددنيا په انقلاباتو او حركاتو او تغيراتو كښ غور كوي نو دۀ ته يوه يره او ګډوډ والے پيدا كيږي. او چونكه هغه اسباب د خير او راحت او خوشحالۍ جمع كول غواړي. خو د اسبابو په تشخيص او شناخت كښ غلطي كوي. نو هر خل ددۀ كوشش بے ځايه او ددۀ په كوشش بربادېدو سره دۀ ته وحشت پيدا كيږي. په آخر كښ يو داسے پريشاني او ګډوډ والے ددۀ زړۀ ته كيږي چه معاذ الله اكثر دنيا دار په دے عارضه كښ ګرفتار دي. او هغوي ته يو ذره هم آرام نشته د هغوي ژوند د مرګ نه بدتر دے. هغوي ته په دنيا كښ هغه عذاب اليم دے. چه امان غواړو په خدائے سره. هر كله چه د يو سړي دا حال وي نو پوهه شه چه د دے برائے نام مومن دے. چه هغه د ايمان كلمات د طوطي پشان وائي خو په زړۀ ددۀ كښ د ايمان نور بالكل نشته او د رضا بالقدر مرتبه دۀ ته حاصله نۀ ده. او چا چه خداوند كريم لره خپل مالك ، پروردګار ، مُربّي ، سرپرست لود هر قسم حاجت پوره كونكے د تولو كارونو ويستونكے د ښو او بدو خبر اخستونكے ، د تولو ضرورتونو بندوبست كونكے. د تولو ضرورونو نه او تكليفونو نه بچ كونكے لوګڼري او د زړۀ نه په هغه باندے يقين اوكړي او تولو مقاصدو او مطالبو لره د هغۀ په مرضئ پريږدي هغه د خدائے پاك د خدايئ نه راضي او خوشحاله شو. اوس څۀ ممكنه ده چه ددنيا د تغيراتو نه دۀ ته دَرَتي برابر رنځ يا اضطراب پيدا شي. نو هغه د خپل مالك په لرادو باندے او د هغه په كارونو باندے د زړۀ نه خوشحاله دے. او كوم انتظام چه بروردګار قائم كړي هغه ددۀ عين مطلب او مقصد دے بيا ددۀ په تكليف څۀ او په رنځ څۀ او په خفګان څۀ. كارِ ساز ما به فكر كارِ ما فكر ما در كارِ ما آزار ما

[1] : په دويم روايت كښ د ترمذي د ايمان څۀ دپاسه شپيتۀ شاخونه دي. مګر په دے كښ راوي ته شك دے چه په اويا باندے څۀ شاخونه دي كۀ په شپيتۀ باندے څۀ شاخونه دي. او بخاري بغير د شك نه په شپيتۀ څو روايتونه كړي دي. او ابوداؤد او ترمذي په اويا باندے څو بغير د شك نه او په يو روايت كښ د ترمذي د ايمان څلور شپيتۀ دروازے منقول دي. او علماؤ اختلاف كړے دے چه صحيح كوم يو روايت دے. قاضي عياضؒ وائي چه صحيح په شپيتۀ باندے څو ښاخونه دي. شيخ ابن الصلاح وائي چه دا شك د سهيل راوي د طرفه واقع شوے دے او بيهقي هم داسے ويلي دي. او د سهيل نه په اويا باندے څو ښاخونه بغير د شك نه هم منقول دي. او رانج كوم يو روايت دے. دا مختلف فيه دے. چا د شپيتو روايت لره ترجيح وركړے او چا د اوياو روايت لره ترجيح وركړے دے. په حديث كښ د بضعَ لفظ چه كوم راغلے دے نو ددے په معنو كښ هم د علماؤ اختلاف دے. څوك وائي چه بضعَ د دريو نه واخله دلسو پورے دے نه وائي. څوك وائي د دريو نه د نهو پورے. خليل وائي بضعَ اووۀ ته ويلے كيږي. چا ويلي دي د دوو نه د لسو پورے او د دولسو نه د شلو پورے. او د شعبه نه مراد يوه تكړه ده نو معنٰى د حديث داده چه ايمان په اويا د پاسه د څو خصلتونو نوم دے. قاضي عياض رحمه الله ويلي دي پورته دا خبره تيره شوے ده. چه ايمان په لُغت كښ يقين كولو ته ويلے كيږي. او په شرعَ كښ په زړۀ سره يقين كولو ته او په ژبه سره اقرار كولو ته ويلے شي. او د شرع د دلائلو نه معلوميږي چه ايمان اعمالو ته ويلے شي. لكه په يو حديث كي دي د تولو نه غوره خصلت د ايمان په كلمۀ توحيد باندے يقين كول دي او د تولو نه كمتر دلارے نه ضرر رسونكے څيز لرے كول او مونږ پورته ويلي دي چه كمال د

وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. د ایمان په اویا دپاسه څو یا په شپیتۀ د پاسه څو ښاخونه دی. په دے ټولو کښې غوره لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ویل دی او ادنیٰ په دے ټولو کښې دلارے نه ضرر رسونکے څیز اوچتول دی او حیاء دایمان یو ښاخ دے[1].

ایمان په اعمالو سره او اتمام د ایمان په عبادت سره دے. او د عبادت کول او د دے ټولو ښاخونو ملاؤول د تصدیق تتمه ده. او د تصدیق دلیل دے. او دا خصلتونه د هغه چا دی چه هغه تصدیق لری. نو هغه د ایمان نه خارج نۀ دی. نۀ د ایمان شرعی نه او نۀ د ایمان لغوی نه او رسول اللهﷺ دے خبرے لره ښودلے ده. چه غوره په دے ټولو خصلتونو کښې توحید دے. چه هغه په هر سړی باندے واجب دے. او یو شاخ هم بغیر د دے نه قائمدے نۀ شی. لکه دائے یوه زیله ده. او د دے ټولو نه کمتر خصلت دادے چه د کوم څیز نه مسلمانانو ته ضرر د رسیدو امکان وی یا گمان وی لکه ازغی وغیره دلارے نه لرے کول. او د دے دواړو په مینځ کښې ډیر خصلتونه دی. چه هغه په کوشش کولو سره معلومیږی او بعضو په دے کښې کوشش کړے دے. مگر په هغے باندے یقین نۀ شی کیدے چه دا د رسول اللهﷺ په زړۀ کښې وه. او د دے نه پیژندگلی په ایمان کښې څۀ فرق یا نقصان نۀ کوی. په دے واسطه چه اصول او فروع د ایمان ټول معلوم او محقق شوی دی. د قاضی عیاضؒ کلام ختم شو. حافظ ابن حبّان وائی چه ما په دے حدیث کښې د یوے مُدے پورے غور اوکړو. او د عباداتو او اطاعاتو شمارم اوکړو نو هغه په اویا باندے د څوو نه ډیر زیات دی. بیا ما د حدیثو طرفته رجوع اوکړه او کوم عبادتونه چه رسول اللهﷺ په ایمان کښې شمار کړی دی. هغه م یو ځائے کړل نو په اویا باندے څۀ کمیږی. په آخر کښې م د الله پاک کتاب طرفته رجوع اوکړه. او ښۀ په غور م اولوستو او کوم عبادتونه چه الله په ایمان کښې داخل کړی دی هغه م یو ځائے کړل نو هم د اویاو نه څو کمیږی. بیا ما قرآن او حدیث لره ملاو کړل او کوم عبادتونه چه مکرر ملاو وو هغه م ترے اووېستل نو د الله او د هغه د رسول بیان کړے شوی عبادتونه چه ملاو شو نو په اویاو دپاسه نهه شول نه زیات او نۀ کم. هر کله چه ما دا یقین او کړو چه مراد د هغۀ دا عبادتونه دی. او ابن حبّان د دے ټولو عبادتونو لره په کتاب منهاج کښې ذکر کړی. د ابو عبد الله حلیمی بل کتاب کښې هم شته شعب الایمان د امام بیهقی. او ابن حبان وائی چه په شپیتۀ باندے د څو دا روایت هم صحیح دے. د دے دپاره چه د عربو خلق شمار بیانوی او د دے نه دا غرض نۀ شو چه د دے نه زیات نور نشته دے (انتهیٰ کلام النووی)، په سراج الوهاج کښې مولانا سید محمد صدیق حسن خان صاحب بهادر فرمایلی دی چه شعب الایمان د بیهقی خلاصه امام قزوینی کړے ده. بیا ما د قزوینی د خلاصے خلاصه کړے ده او د هغے نوم مے (الروض الخصیب) ایخودے دے.

[1] او په یو روایت کښې دی چه حیاء په ایمان کښې ده. او په دویم روایت کښې دی چه د حیاء نه نۀ کیږی مگر نیکی. او په یو روایت کښې دی چه حیاء بالکل خیر دے. واحدی وائی چه حیاء او استحیاء دواړه د حیات نه وتلی دی. او حیاء د انسان قوتِ حیات دے. نو د کوم سړی احساس چه لطیف او حیات ئے قوی دے په هغۀ کښې حیاء وی. جُنید بغدادیؒ وائی چه حیاء د نعمتونو لیدل او په خپلو تقصیراتو باندے نظر کول دی. یعنی د خدائے په احساناتو او په خپلو تقصیراتو باندے غور کول. د دے نه یو حالت پیدا کیږی چه هغے ته حیاء وائی. په اخلاقو کښې فضائل نفس درے دی عفت او شجاعت او عدالت. بیا حیا د عفت یوه شعبه ده. ابوعلی بن مسکویه په کتاب الطهارة کښې ویلی دی. چه حیاء د نفس د بدو خبرونه منع کول او د بدئ نه پرهیز کول دی. قاضی عیاض رحمه الله وائی چه حیاء یو خُلقی صفت دے. بیانئے دے لره په ایمان کښې داخله کړے ده د دے دپاره چه کله حیاء پیدا کیږی د ریاضت او کسب

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ فَقَالَ الْحَيَاءُ مِنَ الْإِيمَانِ

سالم د خپل پلار عبد الله بن عمر ؓ نه روايت کړے دے. رسول الله ﷺ واوريدل چه يو سړی خپل ورور ته د حياء په باب کښې نصيحت کوو. حضرت ﷺ اوفرمائيل (دے پريږدئ يعنی د حياء د نصيحت نه ئے مه منع کوئ) حياء په ايمان کښې داخله ده. او په دويم رايت کښې دی مَرَّ بِرَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ يَعِظُ أَخَاهُ يعنی حضرت ﷺ په يو انصاری باندے تير شو چه هغه انصاری خپل ورور ته نصيحت کولو.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ الْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ فَقَالَ بُشَيْرُ بْنُ كَعْبٍ إِنَّهُ مَكْتُوبٌ فِي الْحِكْمَةِ أَنَّ مِنْهُ وَقَارًا وَمِنْهُ سَكِينَةً فَقَالَ عِمْرَانُ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُحَدِّثُنِي عَنْ صُحُفِكَ

عمران بن حُصين بيان کړے وو چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی د حياء نه نۀ کيږی مګر بهتری. بشير بن کعب ويلی دی چه د حکمت په کتابونو کښې ليکلی دی چه د حياء نه وقار پيدا کيږی او د حياء نه آرام زړۀ ته حاصليږی عمران اووے څۀ خو تاته د رسول الله ﷺ خدمت بيانوم. او تۀ د خپلو کتابونو خبرے کوے[1].

نه لکه اخلاق حسنه چه په رياضت سره حاصليږی. او کله خُلقی وی. ليکن د حيا استعمال د شرع د قانون موافق محتاج وی. کسب او نيت او د علم طرف نو هغه په ايمان کښې دے. او دويمه دا چه نيک کارونه کوی او دګناهونو نه بچ کول کوی. مګر دا چه کوم نے فرمايلی دی چه حيا بالکل خير دے او نه کيږی ددے نه مګر خير ، نو په دے کښې دا اشکال کيږی چه بعضے وخت دحيا په وجه سره انسان د حقے خبرے د ويلو نه منع شی او امر باالمعروف او نهی عن المنکر پريږدی. او کله د حياء د وجے نه د هغۀ حقوق تلف کيږی نو خير يواخے څنګه شو ددے جواب دادے چه دا حياء نۀ ده دا خو عجز او ناتوانی ده دے ته حياء بعضو مجازاً ويلے ده ليکن په حقيقت کښې حياء د هغه خلق نوم دے چه هغه د بدے خبرے نه منع کوی او ښے خبرے طرفته رابلل کوی او د چا حقدار په حق کښې د قصور کولو نه منع کوی او د جنيد قول په دے باندے دلالت کوی (نووی)

[1] وقار وانی په سوچ سره يو کار کولو ته او ددے خلاف سپک والے دے. چه په تادئ سره څۀ په خيال کښې راشی او اوشی او د هغے په انجام سوچ اونه شی لکه چه د خناورو حال دے. او سکينه هم وقار ته وانی يعنی کون نفس او د ثبات حرکات وخت او ددے په خلاف کښې دے ګډوډ والے او تادی (عمران بن حصين بشيرين کعب ته اووے چه زۀ خو تاته د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او تۀ د خپلو کتابونو خبرے کوے) يعنی د قران او حديث په مخکښې د حکيمانو اقوال بيانول بے موقع دی. اګر چه حکيم لوئے دانشمند او عقيل وو مګر بيا هم ددۀ نه په زرونو غلطيانے شوے دی. د حکيم رُتبه د پيغمبر نه ډيره کمه ده. دغه شان د حکمت مرتبه د نبوت نه ډيره کمه ده بيا د پيغمبر عليه الصلوة والسلام قول چه کله ملاو شی نو اوس د حکيمانو خبره لتول بے کاره دی.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ فِي رَهْطٍ مِنَّا وَفِينَا بُشَيْرُ بْنُ كَعْبٍ فَحَدَّثَنَا عِمْرَانُ يَوْمَئِذٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ قَالَ أَوْ قَالَ الْحَيَاءُ كُلُّهُ خَيْرٌ فَقَالَ بُشَيْرُ بْنُ كَعْبٍ إِنَّا لَنَجِدُ فِي بَعْضِ الْكُتُبِ أَوِ الْحِكْمَةِ أَنَّ مِنْهُ سَكِينَةً وَوَقَارًا لِلَّهِ وَمِنْهُ ضَعْفٌ قَالَ فَغَضِبَ عِمْرَانُ حَتَّى احْمَرَّتَا عَيْنَاهُ وَقَالَ أَلَا أَرَانِي أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُعَارِضُ فِيهِ قَالَ فَأَعَادَ عِمْرَانُ الْحَدِيثَ قَالَ فَأَعَادَ بُشَيْرٌ فَغَضِبَ عِمْرَانُ قَالَ فَمَا زِلْنَا نَقُولُ فِيهِ إِنَّهُ مِنَّا يَا أَبَا نُجَيْدٍ إِنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ حَدَّثَنَا إِسْحَقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا النَّضْرُ حَدَّثَنَا أَبُو نَعَامَةَ الْعَدَوِيُّ قَالَ سَمِعْتُ حُجَيْرَ بْنَ الرَّبِيعِ الْعَدَوِيَّ يَقُولُ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ

دابو قتاده نه روايت دے چه مونږ د عمران بن حصين سره زمونږ د خلقو نه په يو رهط كښې «رهط وائي د لسو نه د كمو سړو جماعت ته» او زمونږ په دے خلقو كښې بشير بن كعب «ابن ابي الحميري عدوي ابو ايوب بصري» هم وو. عمران يوه ورځ حديث بيان كړو چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي حيا خير دے يا حياء بالكل خير دے بشير بن كعب وائي مونږ په بعضے كتابونو كښې يا حكمت كښې ليدلي دي چه حياء خو يو قسم سكينه او وقار دے. د الله تعالى د پاره او يو قسم حياء ضعف نفس دے. دد ے په اوريدو سره عمران ته غصّه راغله. او د هغه سترګے سرے شوے. او هغوي اووے زۀ خو د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او تۀ د هغے خلاف بيان كنبے. ابوقتاده وائي عمران بيا دوباره دے حديث لره بيان كړو. بشير بيا دوباره ورته هغه خبره اوكړه. نو عمران غصّه شو «او هغوي بشير ته د سزاء وركولو اراده اوكړه» مونږ ټولو اووے اے ابا نجيد «دا كُنيت دے د عمران بن حصين» بشير زمونږ نه دے «يعني مسلمان دے په دۀ كښې څۀ عيب نشته «يعني هغه منافق يا بے دينه يا بدعتي نۀ دے لكه څنګه چه تۀ خيال كوے» [1]

---

[1] يو د حياء ضعف نفس دہ. يعني كمزورتيا او بريدل بزدلي بے حوصله كيدل چه د هغۀ په زړۀ كښې طاقت نۀ وي. وينه په هغه كښې كمه وي هغۀ ته دا صفت اكثر يوخانے كيږي. دے ته په عربي كښې عجز او خُور او مهانه هم ويلے شي. دد ے صفت دوجے نه په انسان كښې كمزورتيا پيدا كيږي. هغه خپل حقوقو لره پوره پوره نۀ شي حاصلولے. يريږي آخر چه څۀ ورته ملاويږي په هغے باندے قناعت كوي. او وينه نۀ تويوي بلكه د خپلو حقوقو د حاصلولو دپاره كوشش هم نۀ كوي. اكثر د هندوستان خلق په دے بدعادت كښې مبتلا دي. او دا د جاريايانو د اخلاقو نه دي چه ددي نه هميشه منع كول راغلي دي. او دا په حقيقت كښې حياء نۀ دہ چه د صفات حميده او اخلاق فاضله نه دہ. خو بعضو په دے باندے د حياء اطلاق په مغالطه سره يا مجازاً كړے دے. د يوجانس حكيم كوم چه په يونان كښې وو هغۀ هم ويلي دي چه حياء د ضعف نفس نه پيدا كيږي او دے لره پريخودل پكار دي. مراد ددغے حياء نه هم صفت رزيله دے نه هغه حياء كومه چه انسان دبدو خبرو نه منع كوي هغه خو په اتفاق سره ښكلے صفت دے. «عمران بن حصين بشير بن كعب ته اووے. زۀ خو د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او تۀ د هغے خلاف بيان كوے» به هر حال په حديث كښې چه كوم مطلب دے هغه بالكل صحيح دے. ولے چه مراد د حضرت ﷺ د حياء نه هغه صفت دے چه هغه د اخلاق فاضله نه دے. چه د هغے بيان اوس اوشو. او كوم چه انسان د غلطو كارونو نه او ګناهونو نه منع كوي او بالكل خير دے سراسر ښۀ والے دے. او د حكمت په رُو سره چه كوم امر ثابت دے. هغه هم صحيح

بَابُ جَامِعِ أَوْصَافِ الْإِسْلَامِ

باب: د اسلام د جامع اوصافو بیان

عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قُلْ لِي فِي الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ وَفِي حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ غَيْرَكَ قَالَ قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ فَاسْتَقِمْ

د سفیان بن عبد الله ثقفی نه روایت دے ما اووے یا رسول الله ﷺ ماته په اسلام کښې یوه داسې خبره اوښایه چه بیا زهٔ هغې لره ستا نه پس د چا نه تپوس نهٔ کوم. هغوی اوفرمایل چه اووایه ما په خدائے پاک باندے ایمان راوړے دے او بیا په هغې باندے استقامت اختیار کړه د ابواسامه په روایت کښې دی ستا نه سوا د چا نه [1].

دے. ددے دپاره چه حکیمانو دے حیاء ته بده نهٔ ده ویلې. بلکه ضعف نفس لره. چه هغه په حقیقت سره په حیاء کښې داخل نهٔ دے. او په دواړو قولونو کښې د څهٔ قسم تعارض یا خلاف نشته دے. خو چونکه بشیر د حیاء اطلاق په دے بد صفت باندے هم کړے دے. او حیاء ئے په دوه قسمه باندے تقسیم کړے ده. یوه ښهٔ او بله بده. او د ظاهر نه دا خبره وتلے ده چه حیاء بالکل خیر دے نو په ظاهر ګویا د حدیث په خلاف کښې یوه خبره ویلے ده او د حکمت خبرے لره د حدیث په مقابله کښې بیان کړے ده. ددے دپاره عمران غصه شو. په السراج الوهاج کښې دی. اکثر سلفو بلکه د خلفو صلحاؤ داسې غصه او انکار کړے دے په هغه سړی باندے چه د رسول الله ﷺ په مقابله کښې د چا بل قول بیان کړی. اګر چه هغه هر څومره د اوچتے درجے سړے وی. ددے دپاره چه د یو صحابی یا ولی یا مجتهد درجه او مرتبه د حضرت ﷺ برابر نهٔ شی کیدے بیا د هغهٔ خبره هم د حضرت ﷺ د ارشاد په خلاف کښې محض بے وقعت او بے اعتباره ده. او حاصله داده چه سوا د حضرت ﷺ نه نور چه څومره خلق دی د تولو د اقوالو نه څهٔ د اخستو قابل دی او څهٔ د پریخودو قابل دی. په قول د "خُذْمَا صَفَا وَدَعْ مَا كَدَرَ" او زهٔ حیرانیږم هغه سړی ته چه هغه ایمان راوړی په الله باندے او د هغهٔ په رسول ﷺ باندے او په ورځ د قیامت باندے چه د هغهٔ زړهٔ څنګه منی. چه د رسول الله ﷺ حدیث اوری او بیا په دے امت کښې د بل چا خبره اوری یائے منی. او د بل چا خبره وړاندے کوی د رسالت مآب صلی الله علیه وسلم په خبره باندے چه د هغهٔ په شان کښې دا آیت نازل شوے دے "وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ـ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى".

[1] قاضی عیاض وائی دا حدیث په جوامع الکلم کښې دے. او د الله تعالی د قول "اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا" په مطابق دے یعنی کومو خلقو چه اووے چه زمونږ پروردګار الله دے. او بیا په هغې باندے ئے استقامت اوکړو یعنی د الله جل جلاله په توحید او په هغه باندے ایمان راوړی او په هغې جمعه پاتے شی یعنی د توحید نه او نهٔ تختی او په شرک کښې او نهٔ انخلی او د الله خل جلاله اطاعت په خان باندے لازم کړی تر دے پورے چه په دے حال کښې مړ شی. او دا تفسیر دے د دے آیت د اکثرو مفسرینو او صحابه کرامو او د هغه چا چه ورستو زمونږ نه دی ددے مطابق او دا معنی ده ددے حدیث د قاضی کلام ختم شو. ابن عباس وائی د الله تعالی په دے قول کښې "فَاسْتَقِمْ كَمَا اُمِرْتَ" چه په رسول الله ﷺ باندے په تول قرآن کښې یو آیت ددے نه زیات ګران او سخت نهٔ دے نازل شوے. او په دے واسطه هر کله چه صحابو هغهٔ ته اووے چه حضرت ﷺ ته ډیر زر بوډا شوے. حضرت ﷺ اوفرمایل زهٔ سورة هود او د هغې پشان سورتونو بوډا کړم. أستاذ ابوالقاسم قشیری پخپله رساله کښې لیکلی دی. استقامت هغه درجه ده چه په دے سره تول کارونه پوره او کامل کیږی. او په دے صفت سره تولے نیکئ حاصلیږی. او د هغې انتظام کیږی. او په کوم بنده کښې چه استقامت او استقلال نهٔ وی د هغهٔ تول کوشش بے خایه دے. او د هغهٔ سعی تول بے نتیجے دے. بعضو ویلی دی استقامت یو داسې صفت دے چه دے لره لوئے لوئے

بَاب بَيَانِ تَفَاضُلِ الْإِسْلَامِ وَأَيِّ أُمُورِهِ أَفْضَلُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ

عَنْ عَبْدَ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ إِنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ قَالَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ

باب : د خصائل اسلام فضیلت او د هغه خبرو بیان چه په اسلام کښې کوم کارونه غوره دی

د عبد الله بن عمر نه روایت دے. چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. چه کوم یو اسلام غوره دے؟ حضرت ﷺ اوفرمایل (دا چه ته په وړی او میلمه باندے غله اوخوره وے) چه ته طعام او خوروے او د هر سړی سره السلام علیکم کوے. خواه کۀ ته هغه پیژنے یا ئے نۀ پیژنے [1].

عبد الله بن عمرو بن العاص وېلی دی چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو کوم مسلمان ښۀ دی. حضرت ﷺ اوفرمایل هغه مسلمان چه د هغۀ د ژبے او لاسونو د ضرر نه نور مسلمانان بچ پاتے شی (یعنی نۀ په ژبه سره د چا مسلمان بَد وائی او نۀ په لاسو سره چاته ضرر رسوی)

د جابر نه روایت دے ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلی دی چه فرمایلی ئے وو. مسلمان هغه دے چه د هغۀ د ژبے او لاسونو نه نور مسلمانان بچ پاتے شی.

خلق کوی ولے چه هغه د رسوماتو په پرېخودو سره او خلاف شریعت عادات په پرېخودو سره او خلوص او صدق سره د خدائے په مخکښې د اورېدو نه حاصلیږی. په دے واسطه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی استقامت کوئ او تاسو هیڅ کله ټولے نیکئ نۀ شی کولے. واسطی وائی استقامت هغه خصلت دے چه په هغے سره ټولے نیکئ پوره کیږی. او ددے په نۀ کېدو سره ټول نیکئ خرابیږی. او مسلم په خپل صحیح کښې د سفیان بن عبد الله ثقفی نه صرف دا حدیث روایت کړے دے. او دا حدیث ترمذی هم روایت کړے دے. او دومره ئے زیات کړے دے چه ما اووے یا رسول الله ! ما ته د هر څۀ نه زیات د کوم څیز نه پرېدل پکار دی. هغۀ خپله ژبه اونیوه او اوئے فرمایل ددے نه. ولے چه اکثر گناه د ژبے نه صادر کیږی. او اکثر اُفتونه او بلاگانے په انسان باندے د ژبے دوجے نه راځی. او د تربیت شروع په حکماء کښې دغه ده. چه ورمبے انسان خپلے ژبی لره قابو کړی. او اوگوری چه ددا د ژبے نه چه کومے خبرے راأوځی هغه مناست دی یا غیر مناسب دی. او لازمه ده چه د مصلحت نه خلاف یو خبره د ژبے نه اونۀ باسی.

[1] : کوم یو اسلام غوره دے. یعنی د اسلام کوم یو خصلت غوره دے. او سنت د اسلام دغه دی چه په دے حدیث سره بیان شول. چه مسلمان ته به السلام علیکم کوے. خوه کۀ ددۀ سره پیژنگلی وی یا نۀ وی. او دا عادت کوم چه بعضے خلقو اختیار کړے دے. چه هغه سړے ته سلام کوی چه د هغۀ سره پیژندگلی وی دا عادت ښۀ نۀ دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ قَالَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ

دابو موسى اشعرى نه روايت دے ما اووے يا رسول الله كوم اسلام غوره دے حضرت ﷺ اوفرمايل چه د چا د ژبے او لاسونو نه نور مسلمانان محفوظ پاتے شي[1]

بَابُ بَيَانِ خِصَالٍ مَنِ اتَّصَفَ بِهِنَّ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ

باب: د هغه خصلتونو بيان چه په هغے سره د ايمان خوند ملاويږى

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ مَنْ كَانَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلّٰهِ وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللهُ مِنْهُ

دانس نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمايلى دى درے خبرے دى داسے چه دهغے په وجه سره دايمان خوږوالے او حلاوت موندے شى يو خو دا چه د الله او د هغهٔ د رسول سره د ټولو خلقو نه زيات محبت اوساتى. دويمه دا چه د هر يوسړى سره دخدائے پاك په واسطه دوستى كوى (يعنى ددنيا څهٔ غرض ئے پر نهٔ وى او نهٔ ترنه يريږى) دريمه دا چه كفر دوباره اختيارول روستو ددے نه چه خدائے ورته خلاصے دكفرنه

[1] نووى وائى كله حضرت ﷺ افضل هغه مسلمان ته ويلى دى چه هغه غله خوره وى او هر چا ته سلام كوى او كله ئے هغه چا ته افضل ويلى دى چه د هغهٔ د ژبے او لاسونو نه نور مسلمانان بچ پاتے شى دا اختلاف په وجه د اختلاف د احوال سائلين او حاضرين وو نو په يو مقام كښ د سلام او طعام يعنى د خوړلو ښكول زيات ضرورت معلوم شو نو پيغمبر ﷺ دے لره بيان او فرمايلو او په يوه موقعه د ضرر رسولو نه د بچ كولو ضرورت معلوم شو نو حضرت ﷺ دے لره بيان او فرمايلو. او دا كوم چه ئے فرمايلى دى چه مسلمان هغه دے چه د هغهٔ د ژبے او لاسونو نه نور مسلمانان بچ پاتے شى. نو مطلب دا دے چه كامل مسلمان دغه دے چه په هغهٔ كښ دا صفت وى او دا غرض نهٔ دے چه په چا كښ دا صفت نهٔ وى هغه مسلمان هم نهٔ دے. او په دے حديثو كښ ډير نور فوائد دى يو خو دا چه غله خورول او سخاوت كول او مسلمانانو ته فائده رسول د دين ډير ضرورى كار دے. دويم دا چه مسلمانانو لره ضرر وركولو نه بچ كيدل پكار دى خواه هغه په ژبه سره ضرر يا په څه فعل سره د چا توهين يا حقارت وى كول پكار دى دريم په دے كښ د مسلمانانو د زړهٔ د يو خائے كيدو او اتفاق او په خپلو كښ د محبت او دوستئ او مينے ساتلو يو ترغيب دى قاضى عياض وائى په خپلو كښ مينه ساتل او اتفاق كول د دين په فرضو كښ يو فرض دے او د شريعت لوئے ركن دے. او په دے سره د اسلام انتظام دے څلورم حكم دے د سلام كولو په هر مسلمان باندے خواه د هغهٔ سره پيژنگلى وى يا نهٔ وى او مراد د هر سړى نه هر مسلمان دے. نو دا عام خاص كړے شوے دے او كافر ته سلام كول ضرورى نهٔ دى. پنځم هدايت دے د اخلاص د عمل په واسطه. شپږم ارشاد دے دعاجزئ او انكسارئ طرفته چه هغه شعار د اسلام دے.

كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ

ورکړې دے دومره بدګڼړي لکه په اُور کښ غورځيدل[1]

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ كَانَ يُحِبُّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلهِ وَمَنْ كَانَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ كَانَ أَنْ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي په چا کښ چه درے خبرے وي هغه به د ایمان مزه موندے شي. کوم سړے چه د چا سره دوستی لري بیا د هغهٔ سره دوستی نهٔ کوي مګر د خدائے دپاره (د خدائے نیک بنده ئے اوګڼړي)او کوم سړے چه د الله او د رسولﷺ سره دوستی لري. د نورو او ټولو خلقو نه یا څیزونو نه زیات او کوم بنده چه

---

[1] نوويؒ وائي دا حدیث ډیر لوئے دے او د اسلام د أصولو نه یو اصل دے د علماء وائي د حلاوت ایمان معنی داده چه په عبادت کښ او په تکلیف اُوچتولو کښ د خدائے او د رسول درضامندئ دپاره لذت او مزه پیدا شي. او د دنیا په فائدو او منافع باندے د خدائے او رسول رضامندي وړاندے کړي او د خدائے پاک محبت داد ے چه د هغهٔ حکم به مني او د هغهٔ مخالفت لره به پریږدي دغه شان د رسول اللهﷺ محبت دے قاضي عیاضؒ وائي د احدیث دد ے مطلب دے لکه چه پورته تیر شو یو حدیث چه د ایمان مزه او څکله هغه چا چه هغه د خدائے د خدایئ سره او د محمدﷺ د پیغمبرئ او د اسلام او دین سره راضي شو دد ے دپاره چه د خدائے او رسول محبت دغه شان خالص د خدائے دپاره د بل مسلمان سره محبت او دغه شان کفر لره د بیا اختیارولو نه نفرت نهٔ شي کیدے مګر هغه سړي ته چه د هغهٔ ایمان او یقین زور آور دے. او د هغهٔ زړهٔ ته اطمینان دے. او د هغهٔ سینه پراخه ده. او ایمان د هغهٔ په غوښه او وینه کښ اثر کړے دے دا هغه سړے دے چا چه د ایمان خوږوالے موندلے دے او د خدائے دپاره د چا سره محبت ساتل د خدائے د محبت میوه ده او بعضے وائي چه د خدائے محبت داد ے چه خپل زړهٔ د خدائے د مرضئ مطابق کړي نو څهٔ چه خدائے ته غوره وي هغه دے دهٔ ته هم غوره وي او څهٔ چه خدائے ته غوره نه وي هغه د هم دهٔ ته غوره نهٔ وي او په دے باب کښ د متکلمینو عبارتونه مختلف دي لیکن مطلب ئے یو دے او حاصل داد ے چه محبت یو د مینه او خواهش دے بیا دا مینه کله خو د هغه څیزونو طرفته وي چه هغه بالطبع انسان ته مرغوب دي. لکه ښکلے والے خوش آوازي، د خوراک مزه، او کله د هغه څیزونو طرفته وي چه د هغے حسن د عقل نه معلوم شوے دے. لکه د صالحینو سره محبت او د علماؤ محبت او د فضل د خاوندانو سره محبت. او کله دا مینه دد ے وجے نه کیږي چه چا په دهٔ باندے احسان کړے وي یا ئے د تکلیف او مصیبت نه بچ کړے وي او دا ټولے خبرے زمونږ په رسول کریمﷺ کښ موجود دي ولے چه ټول کمالات ظاهري او باطني په هغهٔ کښ موجود او جمع وو او ټول فضائل او محاسن اخلاق په هغهٔ کښ موجود وو او د هغهٔ احسان او فیض خو دومره عام دے چه د ټولو مسلمانانو په څټ باندے دے او مسلمانانو لره ئے همیشه همیشه آرام غوښتلے دے او د جهنم د عذاب نه ئے بچ کړي دي. بیا د خداوند کریم جل شانه احسان خو د ټولو نه زیات دے ولے چه هم هغهٔ حضرتﷺ وسلم لره پیدا کړو او بیائے خپل پیغمبرﷺ کړو او زمونږ طرفته یو رحمت خپل را اولیږو. پس په حقیقت او اصل کښ دا د رب ذوالجلال محبت دے محبت د رسول اللهﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم او اهل بیتو او صالحینو او اولیاء الله د الله د محبت طرفته راجع دے. نو د الله محبت بالذات دے د باقي ټولو بالعرض یعنی د خدائے د محبت لاندے دي. او څوک چه سوا د خدائے نه د څهٔ بل څهٔ څیز سره محبت بالذات لري هغه د اهل الله په نز مشرک دے يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللهِ دا صفت دے د مشرکینو. او د مومنانو صفت داد ے وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ (نووي سره د زیادت نه)

يُلْقَى فِي النَّارِ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يَرْجِعَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللهُ مِنْهُ

أور ته غورځول غوره کړي. مګر بيا کفر اختيارول غوره نۀ کړي هر کله چه خدائے پاک دۀ ته د کفر نه خلاصے ورکړو[1].

بَاب وُجُوبِ مَحَبَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ مِنَ الْأَهْلِ وَالْوَلَدِ وَالْوَالِدِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ وَإِطْلَاقِ عَدَمِ الْإِيمَانِ عَلَى مَنْ لَمْ يُحِبَّهُ هَذِهِ الْمَحَبَّةَ

باب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د اولاد مور او پلار نه زيات محبت ساتل واجب دي. او د چا چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دا سے محبت نۀ وي هغه مومن کيدے نۀ شي

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ وَفِي حَدِيثِ عَبْدِ الْوَارِثِ الرَّجُلُ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ

د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي يو بنده مومن نۀ شي کيدے د کومے پورے چه هغۀ ته زما محبت د کور والا او مال او د ټولو خلقو نه زيات نۀ وي او د عبد الوارث په روايت کښې دي چه يو بنده مومن کيدے نۀ شي[2].

---

[1]: مراد دے نه هغه خلق دي چه هغه وړاندے کافر يا مشرک وو. بيا خدائے پاک دوی لره په اسلام باندے مشرف کړل نو ددوی اسلام به دوی ته هله مزه ورکوی چه د کفر د دين نه دومره بيزاره وي چه په أور کښې غورزيدل قبلوي خو کفر نۀ قبلوي.

[2]: خطابي وائي مراد هغه محبت نۀ دے چه هغه طبعي وي او غير اختياري بلکه مقصود محبت اختياري دے. نو مطلب دا دے چه د رسول الله ﷺ اطاعت او د هغۀ په ارشاداتو باندے عمل د هر څۀ نه مخکښې لري. پلار مور ښخه، بچي، دوستان، آشنايان دا ټول که خفه کيږي نو قبلوه نے. خو د خدائے او د رسول نافرماني هيڅ کله مۀ اختياره وه. دا رښتونے محبت دے چه په دے باندے د ايمان مدار دے. ابن بطال او قاضي عياض وائي چه محبت په درے قسمه دے. يو خو محبت د مشرئ او بزرګئ په وجه سره دے. لکه د خوئ چه د پلار سره وي او د شاګرد چه د استاذ سره وي. دويم محبت د شفقت او د مينے دوجے نه وي لکه د پلار مور چه د اولاد سره وي. دريم محبت د هم شکل او هم خيال کيدو په وجه وي. لکه د دوستانو اشنايانو چه محبت وي. نو حضرت ﷺ دے ټولو محبتونو لره جمع کړي دي بطال وائي د حديث مطلب دا دے. چه د چا ايمان اکمل وي. او هغه ددے خبرے يقين کوي چه د رسول الله ﷺ حق په دۀ باندے زيات دے ددۀ د پلار مور او خامنو د حق نه. ولے چه رسول الله ﷺ په ذريعه سره مونږ ته د جهنم نه خلاصے ملاو شوے دے او مونږ د ګمراهئ نه راوتي يو او هدايت مو موندلے دے.

قاضي عياض وائي چه د رسول الله ﷺ د محبت نه يو خبره دا هم ده چه د هغۀ د سنتو مدد کول او د هغۀ په شريعت باندے چه څوک اعتراض اوکړي د هغے جواب ورکول او د حضرت ﷺ سره د ملاقات آرزو لرل اګر که ځان او مال نے پرے قربان شي. او هر کله چه دا خبره معلومه شوه نو دا خبره ثابته شوه چه د ايمان حقيقت نۀ پوره کيږي بغير د هغوئ د محبت نه او ايمان نۀ صحيح کيږي تر هغے چه د رسول الله ﷺ قدر و منزلت د پلار مور، بزرګ او محسن د ټولو نه زيات په زړۀ کښې نۀ وي. او د چا چه دا اعتقاد نۀ وي هغه مومن کيدے نۀ شي (نووي)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ وَوَالِدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه ساسو نه څوک مومن کیدے نهٔ شی د کومے پورے چه د هغهٔ سره خما محبت د اولاد نه، د مور او پلار نه، او د ټولو خلقو نه زیات نهٔ وی.

بَابُ الدَّلِيْلِ عَلَى أَنَّ مِنْ خِصَالِ الْإِيْمَانِ أَنْ يُحِبَّ لِأَخِيْهِ الْمُسْلِمِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ مِنَ الْخَيْرِ

باب: د ایمان خصلت دادے چه د خپل مسلمان رور دپاره به خوښوے هغه څیز چه د ځان دپاره خوښوے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيْهِ أَوْ قَالَ لِجَارِهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه څوک ستاسو نه مومن نهٔ دے د هغے پورے چه هغه د خپل رور یا ګاونډی دپاره هغه څهٔ اونهٔ غواړی کوم چه د ځان دپاره غواړی[1].

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُحِبَّ لِجَارِهِ أَوْ قَالَ لِأَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې (یعنی د قدرت په قبضه کښې) خما روح دے چه یو سړے مومن کیدے نهٔ شی د کومے پورے چه هغه د خپل رور یا ګاونډی دپاره هغه څهٔ اونهٔ غواړی کوم چه د ځان دپاره غواړی.

بَابُ بَيَانِ تَحْرِيْمِ إِيْذَاءِ الْجَارِ

باب: ګاونډی ته ضرر رسول حرام دی

---

[1]: علماؤ ویلی دی مراد دادے چه کامل مومن نهٔ دے. ګنی اصل ایمان خو بغیر دد ے صفت نه هم حاصلیږی او مطلب دادے چه د خپل مسلمان رور دپاره هم عبادات او نیکی او د دنیا ټول هغه څیزونه کوم چه د خپل ځان دپاره غواړی دهغهٔ دپاره اوغواړی. د نسائی په روایت کښې دی نیکی او خوبی. ابن الصلاح وائی چه بعضو دد ے صفت حاصلول سخت او محال ګڼړلے دی. حالانکه دا خبره صحیح نهٔ ده. ولے چه مراد دادے چه ستاسو نه د چا ایمان کامل کیدے نهٔ شی د کومے پورے چه هغه د خپل مسلمان رور دپاره هغه څهٔ او نهٔ غواړی کوم څهٔ چه د ځان دپاره غواړی. یعنی د هغهٔ دپاره هم د نعمتونو حاصلیدل بنه اوګڼړی کهٔ پخپله ئے پکښې څهٔ نقصان نهٔ وی او دا امر ډیر اسان دے په قلب سلیم باندے یعنی د چا زړهٔ چه صفا وی. البته د چا زړهٔ چه د کینے بُغض او حسد نه ډک شوے وی په هغه باندے ډیر ګران دے. خدائے پاک دِ مونږ لره او زمونږ ټولو رونړو لره دداسے خرابو زړونو نه اوساتی. (نووی) حاصل داده چه هر کله د چا مسلمان رور فائده کیږی او پخپله په دے کښې څهٔ ضرر نهٔ وی نو په هغے باندے خوشحالیدل پکا ردی. او همیشه په عامه خیر خواهی او عامه همدردی کښې شریک کیدل پکار دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هغه سړے به جنت ته لاړ نهٔ شي چه د هغهٔ ګاونډی د هغهٔ د مکر او فساد نه محفوظ نهٔ وی[1].

بَابُ الْحَثِّ عَلَى إِكْرَامِ الْجَارِ وَالضَّيْفِ وَلُزُومِ الصَّمْتِ إِلَّا عَنِ الْخَيْرِ وَكَوْنِ ذٰلِكَ كُلِّهِ مِنَ الإِيمَانِ

باب: د ګاونډی او د میلمه د خدمت ترغیب او د چُپ پاتے کیدو غوره والے او د دے خبرو په ایمان کښې داخلیدل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی کوم سړے چه په الله ﷻ باندے او په ورځ د اخرت باندے (یعنی قیامت) یقین لری هغهٔ له پکار دی چه یا خوښے خبرے کوی او یا چپ وی او کوم سړے چه په الله ﷻ باندے او په ورځ د آخرت باندے ایمان لری هغهٔ له پکار دی چه د خپل ګاونډی عزت کوی. او کوم سړے چه په الله باندے او په ورځ د آخرت باندے ایمان لری هغه له پکار دی چه د خپل میلمه عزت کوی[2].

---

[1] یعنی ددهٔ دبدئ او ظلم نه په أمن نهٔ وی او هغه همیشه یریږی چه چرته ماته ددهٔ د طرفنه صدمه رااونهٔ رسی علماء وائی دد ے حدیث مطلب داد ے چه څوک ګاونډی لره تنګول صحیح اوګنړی او حالانکه د ے پوهیږی چه ـ ا کار حرام د ے نو هغه کافر د ے چرته جنت ته نهٔ شی تلے یا دا عرض د ے چه دهٔ ته د جنت دبیرته کیدو سره جنت ته تلل به نهٔ نصیب کیږی مګر حصار به وی د هغے پور ے چه په هغے ګناه باند ے عذاب شی یا ورته معافی اوشی. او ضرورت دد ے تاویلونو داد ے چه کوم وراند ے تیر شو چه د حق د خاوندانو مذهب داد چه کوم سړے په توحید باند ے مر شی اګر چه ګناه کبیره ئے کړے وی هغه همیشه په جهنم کښې نهٔ شی پاتے کید ے مګر څهٔ ورځے به عذاب ورکولے شی یا به معاف کړے شی نو بیا به هله جنت ته خی بهر حال ګاونډی ته تکلیف ورکول او ناحق هغه لره تنګول داسے حرام دی چه د جنت نه محرومه کوی بنده لره

[2] سُبْحَانَ الله څومره ښکلے نصیحت د ے نووی رحمه الله وائی غرض داد ے چه هر کله د خبرے کولو اراده اوکړی نو سوچ اوکړه چه کومه خبره کول غواړے هغه بهتره ده د ثواب خبره واجب ده یا مستحب ده نو هغه وخت ئے اووایه او که چرے معلومه شی چه دد ے خبرے په کولو کښې ثواب نشته نو چپ پاتے شه بیا خواه که هغه خبره حرامه وی یا مکروه وی یا مباحه وی چه په هغے کښې نهٔ ثواب وی نهٔ عذاب په هر حال کښې خاموشی غوره ده نو د مباح خبرے هم نهٔ ویل غوره او اولی دی ولے چه مباح خبرے انسان لره د مکروهو او حرامو طرفته راغواړی. او دا ے اتفاق ا ... راخی الله جل جلاله فرمایلی دی مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ یعنی کومه خبره چه انسان د خُلے نه رااوباسی ددهٔ سره یو ... د ے چه هغه لاړ وینی تیار د ے د هغے لیکلو ته او اختلاف کړے د ے سلفو او خلفو په

دے مسئله کښې چه دانسان تول قسم خبرے اگر چه مباح وی لیکلے شی. یا صرف هغه خبرے چه په هغے کښې ثواب یا عذاب وی د ابن عباس قول دادے چه صرف هغه خبرے لیکلے کیږی چه د هغے بدله ثواب یا عذاب ملاویږی. په دے صورت کښې آیت لره خاص کول پریوځی او شرع ترغیب ورکړے دے طرفته چه مباح خبرے ډیرے کول ښۀ نه دی. ولے چه انسان اکثر په ډیرو خبرو کولو سره اگرچه مباح وی په حرامو یا مکروه خبرو کښې مبتلا کیږی
امام شافعی رحمه الله د دے حدیث دا مطلب بیان کړے دے چه انسان لره د خبرے کولو نه وړاندے فکر کول پکار دی. بیا کۀ چرے د ده ته د دے خبرے تحقیق اوشی چه په دے خبره کښې څۀ نقصان نشته نو هغه خبره د اوکړی. اوکۀ چرے دا امر تحقیق شی چه د دے خبرے نه به ضرر پورته شی یا د د عدم ضرر د پورته کیدو شک وی نو چپ د پاتے شی امام ابن ابی زید مالکی رحمه الله وائی تول آداب او اخلاقِ حسنه د څلورو حدیثونو نه وتلی دی. یو خو دغه حدیث ، دویم هغه حدیث چه د بنده ښۀ اسلام دادے چه هغه خبره پریږی چه هغه پکار نۀ راځی(یعنی د بے کاره او لغوه خبرونه د پرهیز اوکړی) دریم حدیث لاتغضب یعنی غصه مۀ کوه څلورم هغه حدیث چه وړاندے تیر شو چه انسان له پکار دی چه د خپل رور دپاره هغه څۀ غوره کړی کوم څۀ چه د خان دپاره غوره کوی او استاذ ابوالقاسم قشیری رحمة الله تعالی فرمائیلی دی به موقع باندے چپ پاتے کیدل د سرو صفت دے لکه چه په موقع باندے ویناکول ژبات ښۀ خصلت دے او ماد ابوعلی دقاق نه اوریدلی دی هغه ویلی وو چه کوم سړے چُپ پاتے شو د حقے خبرے نه (یعنی کوم ځائے چه د حقے خبرے بیانولو موقع وی) نو هغه گونگا شیطان دے لیکن ارباب مجاهده او ریاضت چه کوم سکوت اختیار کړے دے هغه د دے دپاره چه ه خبرو کولو کښې قسم قسم افتونه دی او په دے کښې نفس ته چه کومه خوسحالی وی هغه خپل تعریف کوی او کله خپل فصاحت او شیرین بیانی په خلقو باندے ظاهرول غواړی. او دا سکوت او خاموشی د تهذیب او اخلاقو یو لوئے رکن دے فضیل بن عیاض رحمه الله د دے بیان کړے دے چه کوم سړی خبرے لره د خپلو اعمالو نه یو عمل اوگڼړو هغه به بے فائدے خبرے کمے کوی او ذالنون مصری وائی د ټولو نه زیات د خپل نفس حفاظت کونکے هغه سړے دے چه هغه خپله ژبه زیاته قابو کړی کوم سړے چه په الله باندے او ورستو راتلونکی ورځ باندے ایمان لری هغه له پکار دی چه د گاونډی او میلمه عزت اوکړی قاضی عیاض رحمه الله وائی مطلب د حدیث دادے چه کوم سړے په شریعت اسلام باندے تلل غواړی هغه له د گاونډی او میلمه سره ښۀ خوی ساتل ضروری دی او الله تعالی په خپل کتاب کښې د گاونډی سره د ښۀ خوی کولو حکم کړے دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی چه جبرائیل ما ته به همیشه د گاونډی سره د ښۀ خوی کولو دپاره وصیت کولو تردے پورے چه خما په یقین راغے چه جبرائیل د ده ته ترکه هم ورکوی ، یعنی د میراث نے حقدار کوی، دغه شان د میلمه عزت کول هم د اسلام طریقه ده او د پیغمبرانو د صالحانو خصلت دے او لیث وائی چه یوه شپه میلمستیا کول واجب دی. او د هغے دلیل هغه حدیث دے چه یوه شپه میلمستیا کول حق دے او په هر مسلمان باندے واجب دے او د عقبه د حدیث چه هر کله تاسو په یو چا باندے ورشئ بیا هغه په طور د میلمستیا تاسو لره څۀ درکوی نو هغه قبلوئ او څوک چه نۀ درکوی نو د هغو نه د خپلے میلمستیا حق واخلئ او اکثر فقهاء په دے خبره باندے دی چه میلمستیا کول په اخلاقو کښې داخل دی خو واجب نۀ دی او دلیل د هغوی هغه حدیث دے چه د میلمستیا جائزه یو شپه ده او جائزه وائی عطاء او صله او احسان ته او دا اختیاری وی نۀ وجوبی او هم حضرت ﷺ فرمائلی دی پکار ده چه احسان اوکړی او سلوک اوکړی د دے نه هم دا خبره راوخی چه میلمستیا واجب نۀ ده ولے چه د داسے الفاظو استعمال په واجب کښې نۀ وی دویمه دا چه میلمه اوگاونډی نے یو ځائے بیان کړے دی حالانکه د گاونډی سره سلوک واجب نۀ دے او د وړمبو حدیثونو نے دا تاویل کړے دے چه هغه د اسلام د وړمبنو ورځو حدیثونه دی هر کله چه دلداری او زړۀ ساتل واجب وو بیا علماؤ اختلاف کړے دے چه میلمستیا په باندیچیانو او په ښکلی والادواړو باندے واجب ده یا صرف د ښکلی په اوسیدونکو باندے نو د شافعی رحمه الله او

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِي جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَسْكُتْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ فرمايلي دی کوم بنده چه په اللهؓ باندے او ورستو راتلونکی ورځ باندے يقين لری نو هغه به ضرر نۀ ورکوی ګاونډی ته او څوک چه ايمان راوړی په اللهؓ باندے او په ورځ د آخرت باندے هغه به د خپل ميلمه عزت کوی او څوک چه ايمان راوړی په الله پاک او په ورځ د آخرت باندے هغه د ښے خبرے کوی يا د چپ وی

عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُحْسِنْ إِلَى جَارِهِ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَسْكُتْ

د ابو شريح خزاعی (خويلد بن عمر يا عبد الرحمٰن يا عمرو بن خويلد اهانی ۹
بن عمرو يا كعب) نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمايلي دی کوم سړے چه په اللهؓ باندے او په ورځ د آخرت باندے ايمان لری هغه به د خپل ګاونډی سره نيکی کوی او کوم سړے چه په اللهؓ باندے او په ورځ د آخرت باندے ايمان لری هغه به د خپل ميلمه سره احسان کوی او کوم بنده چه په الله باندے او په ورځ د آخرت باندے ايمان لری هغه به ښے خبرے کوی (چه په هغے کښں نيکی وی يا ثواب وی) يا به چُپ وی

بَاب بَيَانِ كَوْنِ النَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ مِنَ الْإِيمَانِ وَأَنَّ الْإِيمَانَ يَزِيدُ وَيَنْقُصُ

باب : د بدے خبرے نه منع كول په ايمان كښں داخل دی او ايمان كميږی او زياتيږی

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ أَوَّلُ مَنْ بَدَأَ بِالْخُطْبَةِ يَوْمَ الْعِيدِ قَبْلَ الصَّلَاةِ مَرْوَانُ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَقَالَ الصَّلَاةُ قَبْلَ الْخُطْبَةِ فَقَالَ قَدْ تُرِكَ مَا هُنَالِكَ فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ قَضَى مَا

د طارق بن شهاب نه روايت دے د ټولو نه وړاندے چه چا د اختر په ورځ د مانځۀ نه مخکښں خطبه شروع کړے وه هغه مروان وو (د حکم خوے چه د خلفاء بنو اميَه نه وړمبے خليفه دے) دغه وخت يو سړے پاسيدو او اُوئے ويل. د خطبے نه مخکښں مونځ لوستل پکار دی؟ مروان اووے دا خبره موقوف کړے شوے ده. ابوسعيدؓ اووے دغه سړی

محمد بن حکم قول داد ے چه په دواړو باندے واجب دے. او مالکؒ او عنون وائی چه صرف خنګليانو باندے واجب ده دد ے وجے نه چه په قصبه يا ښهر کښں د مسافرو د دمه کيدو خانے ملاوېږی سرائے وغيره او د خوراک سخاک څيزونه هم په بازار کښں دا ټول ملاوېږی و په يو حديث کښں راغلی دی چه ميلمستيا د ځنګل په اوسيدونکو باندے ده نۀ په کلی والو باندے ليکن دا حديث د خاوندانو د معرفت په تړ باندے موضوع دے (نووی)

عَلَيْهِ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ

خو خپل حق ادا کړو. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو. چه کوم سړے ستاسو نه څۀ منکر کار لره (خلاف شرع) کار لره اووینی نو هغه د ختموی په خپل لاسو سره. کۀ چرے دومره طاقت ئے نۀ لری نو په ژبه دے ختم کړی کۀ دومره طاقت ئے هم نۀ وی نو په زړۀ سره (یعنی په زړۀ کښې د هغه بد اوګڼړی او د هغے نه د ویزاره شی) دا د تولو نه د کمے درجے ایمان دے[1].

---

[1] د اختر په ورځ چا چه د تولو نه وړاندے د مانځۀ نه مخکښې خطبه شروع کړے وه هغه مروان وو. قاضی عیاض وائی په دے خبره کښې اختلاف دے. بعضو ویلی دی چه د تولو نه وړاندے د اختر د مانځۀ نه مخکښې حضرت عثمانؓ لوستلے وه. او بعضو ویی دی چه حضرت عمرؓ لوستے دہ. او د هغے وجه داوه چه خلق به د مانځۀ د ختمیدو سره تللو او د خطبے انتظار به ئے نۀ کولو. او بعضے وائی چه په دے کښې دا مصلحت وو چه دلرے اوسیدونکو ته هم مونځ ملاؤ شی. او کوم خلق چه ورسته راشی یعنی ناوخته راشی چه هغوی ته هم مونځ ملاؤ شی او بعضوویلی دی دا فعل د هر چا نه مخکښې معاویهؓ کړے وو. او بعضو ویلی دی چه عبدالله بن زبیر کړے وو. خو دا تول روایتونه ثابت نۀ دی. او کوم چه د رسول الله ﷺ او ابوبکر او عمر او عثمان او علی رضی الله عنهم نه ثابت شوے دے هغه دا دے چه ورمبے ئے د اختر مونځ کړے او بیائے خطبه لوستے دہ او دا قول دے د تولو ملکونو د فقهاؤ. او بعضو په دے باندے اجماع نقل کړے دہ. او دا اجماع د اختلاف نه پس اوشوه. یا دا چه د بنی أمیه د اختلاف طرفته التفات کړے شوے نۀ دے. ولے چه د تولو خلفائے راشدینو او د صدر اول اتفاق شوے وو. او په دے روایت کښې ابوسعیدؓ چه کوم ویلی دی. چه د دے سړی خپل حق ادا کړو. د تولو خلقو په مخکښې دا دلیل دے د دے خبرے چه د خلقو په نز سنت ثابت شوی وو په خلاف د هغے چه کوم مروان کړی وو. او دا هم ابوسعیدؓ اووے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وو چه کوم سړے ستاسو نه څۀ خلاف شرع کار اووینی نو هغه به ختموی او خلاف شرعه به هغه کار وی چه هغه د سنتو خلاف وی. او په هغے په تیره شوے زمانه کښې عمل نۀ وی شوے. او دا د دے امر دلیل دے چه سوا د مروان نه داسے بل خلیفه کړی نۀ وو او د حضرت عثمان او حضرت عمر او حضرت معاویه رضی الله عنهم. چه کوم منقول دی هغه صحیح نۀ دے. (نووی)

پس یو سړے پاسیدو او اُونے ویل چه د خطبے نه مخکښې مونځ لوستل پکار دی. مروان اووے دا خبره موقوف کړے شوے دہ. په دے مقام باندے دا اعتراض کیدے شی. چه ابوسعیدؓ پخپله ولے نۀ منعه کوو ددے بد کار نه تردے پورے چه یو بل سړے پاسیدو او اونے ویل. ددے جواب دادے چه کیدے شی چه ابوسعید د خطبے شروع کولو په وخت په دغه ځائے کښې موجود نۀ وو. نو د غه سړی اعتراض اوکړو کۀ بیا ابو سعیدؓ راغلے وی. و احتمال دے چه ابوسعید د وړاندے نه موجود وی لیکن هغه یره کړی وی د خان د ضرر یا د فتنے نو ساقط شو ددۀ نه انکار کوم چه واجب وو. او د غه سړی یره نۀ وی کړی د څۀ قوت په وجه سره. یائے یره کړی وی د خپل خان باندے صرف او دا جائز دے په داسے صورت کښې بلکه مستحب دے. او احتمال دے چه ابوسعیدؓ ددۀ تائید اوکړو.

کۀ چرے په ژبه سره د منع کولو طاقت ئے نۀ وی نو په زړۀ کښې د ئے بد اوګڼړی دا د تولو نه کمه درجه د ایمان دہ. کۀ چرے دا هم نۀ وی او په زړۀ کښې ئے هم د خلاف شرع کار نه نفرت رانۀ شی نو پوهه د شی چه ایمان رخصت شو او په کفر کښې پریوتو لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ. نوویؒ وائی دا چه کوم حضرت فرمایلی دی او خلاف شرع کار ختمول او وړانول په لاسونو یا ژبه سره. دا امر په

اجماع أمت د وجوب دپاره دے او د امر بالمعروف او نهي عَنِ المنكر په واجب كيدو باندے د كتاب او سنت او اجماع امت نه دليل دے او دا نصيحت كښې داخل دے چه بخپله دين دے او په دے كښې سوا د څو افضيانو نه چا خلاف نه دے كړے او د هغوئ خلاف څۀ اعتبار نشته دے

امام الحرمين هم وائي چه ددوي د خلاف په دے مسئله كښې اعتبار كول نه دي پكار ددے دپاره چه د مسلمانانو ددے په وجوب باندے د رافضيانو د پيدا كيدو نه مخكښې اتفاق راغلے وو او وجوب ددے د شرع نه دے نۀ د عقل نه او د معتزله په نزد عقل نه دے او دا چه كوم فرمايلي دي الله تعالى لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ يعني اے د ايمان خاوندانو تاسو خپل خانونه سنبال كړئ تاسو ته به نورو د ګمراه كيدو نه څۀ نقصان نۀ رسي هر كله چه تاسو هدايت او مومئ دا زمونږ د مذهب په خلاف كښې نه دے ولے چه د ايت معنى په مذهب صحيحه باندے دا ده چه هر كله تاسو ټول احكام كوم چه په تاسو باندے واجب دي په ځانے راوړئ نو د نورو د تقصير نه به تاسو ته ضرر نۀ وي لكه بل ځائے فرمايلي دي وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى يعني د يو بار به بل نه اوچتوي بيا چه هر كله چا امر بالمعروف او نهي عن المنكر اوكړو نو په دے باندے ددۀ مواخذه ختمه شوه اوس ګناه په هغه كښې ده چا چه بد كار اوكړو په دے هم ځان پوهه كول پكار دي چه دښے خبرے حكم كول او د بدے خبرے نه منع كول فرض كفايه دي كه بعضو اوكړو نو د ټولو د ذمه وارۍ نه دا فرض ادا شول ورنه ټول به ګنهګار وي او په بعضے مقاماتو كښې دا فرض كيږي په يو خاص سړي باندے لكه چه د غه مقام كښې ددۀ نه سوا څوك نۀ وي يا ددۀ په حكم سره هغه خبره پريږدي يا لكه څوك خپلے بي بي يا بچي يا غلام لره په څۀ بد كار اووينى بائے په فرضو پريخودلو اووينى

علماء وائي چه كۀ يو سړي ته دا ګمان وي چه خما د منع كولو نه څۀ فائده نۀ كيږي خو بيا هم منع كول پكار دي ددے دپاره چه په نصيحت سره مسلمانانو ته څۀ نۀ څۀ فائده ضرور وي او مونږ پورته بيان كړي دي چه ددے سړي كار حكم كول دي د ښۀ كار او د بد كار نه منع كول دي اوس چا ته چه امر كوي د نيكۍ او منع كوي ئے د بدۍ نه كۀ هغه مني يا نۀ مني منل ددۀ فرض نۀ دي لكه چه الله جل شانه فرمايلي دي په رسول ﷺ باندے څۀ نشته مګر رسول علماء وائي چه په امر بالمعروف او نهي عن المنكر كښې دا شرط نشته دے چه حكم كونكے د پخپله د شريعت په ټولو احكامو باندے چليږي او د بدو خبرو نه د بچ وي بلكه اګر كۀ هغه په تقصير كښې وي خو بيا هم امر بالمعروف او نهي عن المنكر كول پكار دي ولے چه دا دويم فرض دے بيا په يو كښې په خلل راتلو سره دويم لره هم ضائع كول صحيح نۀ دي او دا كار د حاكمانو سره خاص نۀ دے بلكه هر يو مسلمان دے لره كولے شي

امام الحرمين وائي په دے باندے د مسلمانانو اجماع دليل دے ددے دپاره چه په صدر اول كښې او دے نه په نزدے زمانه كښې ادني مسلمانانو به پخپله نورو مسلمانانو به دۀ لره ددے كار نه نۀ منع كوو او په هغۀ به ئے زجر نۀ كوو بيا كۀ چرے حكومت شرط وے د امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوي هغه د پخپله دغه مسئلے لره ښۀ ايزده كړي وي كۀ هغه خبره د مشهورو واجباتو يا محرماتو نۀ وي لكه مونځ . روژه . زنا . شراب خمر . نو هر يو مسلمان ته ددے خبرو علم دے هغه ددے حكم كولے او منع كولے شي او هر كله چه څۀ دقيق مسئله وي نو عوامو لره په دے كښې مداخلت نۀ شي رسيدے او نۀ ئے انكار ته رسيدے شي بلكه دا منصب د علماؤ هم دے دے كار نه انكار كول يا حكم كول پكار دي كوم چه اجماعي وي او كوم كار چه اختلافي وي په هغے كښې يو فريق لره د دويم فريق سره جهګړه كول صحيح نۀ دي ددے دپاره چه هر مجتهد مصيب دے د بعضو په نزد بل مخطي هم دے او د بعضو په نزد يو مصيب دے او باقي مخطي ليكن مخطي معين نۀ شي كيدے او كوم چه معين هم وي نو په وجه د اجتهادي خطائ په دۀ باندے ګناه نشته دے خو كۀ د نصيحت په طور باندے دۀ لره په نرمۍ سره پوهه كړے شي نو هغه غوره ده ددے دپاره چه د علماؤ په دے خبره باندے اتفاق دے چه د اختلاف نه وتل پكار دي حتى المقدور هر كله چه په څۀ سنتو كښې خلل نۀ راځي يا په څۀ بل

اختلاف کښې نه پرے وُځي قاضي القضاة ابو الحسن ماوردي بصري شافعي په خپل کتاب ' احکام سلطانيه ' کښې ليکلي دي چه په دے مسئله کښې د علماؤ اختلاف دے چه بادشاه چا لره محتسب جوړ کړي او هغه مجتهد وي هغه خلقو لره د خپل مذهب طرفته راوستے شي په اختلافي مسائلو کښې چه د کوم فقيهه غواړي مذهب اختياره وي او هميشه په فروعاتو کښې صحابه رضي الله عنهم او تابعين رحمهم الله او د مَن بَعْدَهُم اختلاف پاتے دے. نو نه په محتسب باندے څوک انکار کوي نه محتسب په بل باندے نه بل څوک په دويم باندے دغه شان عالمانو ويلي دي چه مفتي او قاضي ته نه رسي چه هغه په خپل مخالف باندے اعتراض کوي هر کله چه هغه د نص يا اجماع يا قياس جَلِي مخالفت نه کوي. او پوهه شه ته چه دا باب د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ډير ضائع شوے دے د ډيرے اوږدے مودے نه او په دے زمانه کښې چه کوم باقي دے هغه ډير کم دے. حالانکه دا يو ډير لوئے باب وو چه په دے باندے د دين دارومدار وو او هر کله چه بدئ ډيرے خورېږي نو عذاب الهي عام کيږي په هر نيک او بد بنده باندے. او هر کله چه خلق ظالم لره د ظلم نه نه منع کوي نو خدائے تعالى رب ذوالجلال ټولو لره په عذاب کښې گرفتاره وي الله تعالى فرمايلي دي فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ الآيه يعني بچ د شي هغه خلق چه مخالفت کوي د الله د حکم نه رسي به هغوي ته فتنه يا درد ناک عذاب.

نو کوم سړے چه د آخرت طلب گار وي او د الله جل جلاله رضامندي حاصلول غواړي هغه له پکار دي چه د دے خبرے خيال اوساتي يعني د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د دے دپاره چه د دے لويه فائده ده خاص کر په هغه حالت کښې چه هغه موقوف شوے دے او خپل نيت به خالص لري او کوم سړي ته چه حکم کوي يا ئے منع کوي د هغه نه به يره نه کوي په دے خيال سره چه هغه لوئے سړے دے ولے چه الله تعالى فرمايلي دي البته خدائے پاک مدد کوي هغه سړي چا چه د خدائے مدد اوکړو. او فرمايلي دي چا چه اعتماد اوکه په الله باندے هغه ته بسدها يعني بعه الا ملاؤ شوه او فرمايلي دي کومو خلقو چه خما په لاره کښې کوشش اوکړو مونږ هغوي ته خپله لار ښايو او فرمايلي دي حس خيال کوي چه هغه به پريخودے شي په دومره خبره باندے چه مونږ ايمان راوړے دے او دهغوي ازمائش به نه کيږي. د دوي نه مخکښې چه کوم خلق تير شوي دي هغه هم مونږ ازمايلي دي نو البته الله تعالى هغه خلقو لره پيژني کوم چه رښتوني دي او کوم چه دروغجن دي او دا خبره خيال کول پکار دي چه هميشه ثواب دومره زيات ملاويږي څومره چه تکليف زيات وي او امر بالمعروف نهي عن المنکر لکه څنگه چه د يرے نه پريخودل نه دي پکار او د خپلے مرتبے او د کاميابئ دپاره او د مرتبے د اوچتولو او زياتولو دپاره هم نه دي پکار د دے دپاره چه په دوستئ او محبت سره خو د هغه حق په ده باندے راغے او دهغه حق دا دے چه ده ته نصيحت اوکړي او د آخرت فائدے ورته اوښائي او د ضرر رسونکو او هلاکونکو خبرونه ئے بچ کړي او د سړي دوست او عزيز هغه دے چه هغه د ده د آخرت فائدے کوشش کوي. اگر که په دنيا کښې د هغے په وجه سره د هغه نقصان واقع کيږي او دشمن هغه دے چه هغه د ده آخرت لره تباه کړي اگر که د دنيا څه فائده ورته حاصله کړي. او شيطان چه زمونږ د خلقو دشمن شمارلے کيږي هغه د دے وجے نه چه د دنيا په لره شان خوشحالئ او خواهشاتو سره زمونږ د آخرت ژوند چه هميشه هميشه دے تباه کوي او پيغمبر چه د مؤمنانو دوست گڼلے کيږي هغه په دے سبب سره چه دهغه د دوي يعني د مؤمنانو د آخرت په صحيح کولو کښې خپل کوشش کوي يا الله نه مونږ لره او زمونږ دوستانو لره او ټولو مسلمانانو لره توفيق ورکړے چه هغه ستا د خوشحالئ په حاصلولو کښې کوشش کوي او خپل رحمت او عنايت په مونږه ټولو باندے عام کړه او کوم سړے چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي هغه له پکار دي چه نرمي کوي د دے دپاره چه په هغے باندے خلق زر عمل کوي

امام شافعي فرماني چا چه خپل رُور ته پټ نصيحت اوکړو نو هغه ده لره صحيح کړو او ښائسته ئے کړو او چا چه ښکاره نصيحت اوکړو هغه خپل رور لره رسوا کړو او په دے باب سره يو کار هغه دے چه په هغے کښې اکثر خلق سُستي کوي هغه دا دے چه يو سړے په عيب د ... حيز خرخولو باندے اويے بيا هغه لره د هغے عيب نه منع نه کړے او دا يوه لويه خطا ده او عالمانو صفا

وضاحت کړے دے چه کوم سړے په دے امر پوهیږی چه په دے څیز کښ عیب دے نو په هغه باندے واجب دی چه څرګونکے ئے د حرخولو نه منع کړی او اخستونکے د غه عیب نه خبر کړی لیکن طریقه د منع کولو خو هغه بخپله حضرت ﷺ خودلے ده چه دے لره بهمی بدکار لره ، په لاسو سره ختم کړه وران ئے کړه کۀ چرے دا نۀ شی کیدے نو په ژبه سره او کۀ درنه دا نۀ شی کیدے نو په زړۀ سره د زړۀ نه دورانولو مطلب دادے چه هغے لره بد اوګنړی او اګر چه بدګنړلو باندے د ه هغه څۀ ورانیدے خو نۀ شی نو بیا څۀ کول پکار دی خو ددۀ اختیار دومره قدرے دے او دا چه کوم حضرت ﷺ فرمایلی دی د تولو نه دلاندے درجے ایمان دادے یعنی دا یوه ادنی ثمره ده د ایمان چه په زړۀ سره بدکار لره بد اوګنړی او د هغے نه نفرت اوکړی قاضی عیاض وائی چه دا حدیث اصل دے د بدکار په ختمولو کښ نو په ختمونکی باندے واجب ده چه په څۀ شان کیږی چه ختم ئے کړی په قول سره یا په فعل سره نو کوم چه د حرام کار آلات او اسباب وی هغے لره په لاسونو سره مات کړی او شرابو او مسکراتو لره قیمت ورکړی یا بل ته اووانی چه هغه قیمت ورکړی او په زور او زبردستۍ سره اخستے شوے څیز واخلی او پخپله ئے خپل مالک ته حواله کړی یا بل چا ته حکم اوکړی او پکار ده چه د بد کار په ورانولو کښ نرمی اوکړی د جاهل سره او د هغه ظالم سره چه د هغۀ نه د شر یره وی مګر دا هله دے چه هغه له پخپله خبره د چلیدو خیال وی دغه شان مستحب ده دا خبره چه ورانونکے پخپله صالح او خاوند د فضیلت وی او کوم سړے چه په انتها درجه باندے ګمراه وی یا په خپل کار کښ اصرار کوی په هغۀ باندے سختی هم کوه هر کله چه دا معلومه شی چه ددۀ ددے سختۍ نه فائده وی لو یره نۀ وی

د نورو فسادونو کۀ ددۀ غالب ګمان وی چه په لاس سره په ورانولو کښ بل یو لوئے فساد کیږی یعنی د چا د قتل یره وی پخپله ددغه بدکار د ختمونکی یا د بل چا نو قلار دِ شی. او صرف په ژبه سره دِ ورته نصیحت کوی او د عذاب د خدائے پاک نه دِ ئے یره وی. او کۀ غالب ګمان ئے وی چه په ژبه سره په ویلو او منع کولو کښ هم د داقسم شر پیدا کیږی. نو صرف په زړۀ سره دِ هغه بد اوګنړی او چپ دِ شی او دغه مقصود دے د حدیث نه کۀ خدائے اوغوښته او دۀ ته څۀ مددګار ملاؤ شو نو د هغۀ نه به مدد واخلی خو وسله به نۀ اوچتوی او جنګ به نۀ شروع کوی او پکار ده چه ددے خبرے حاکم ته اطلاع ورکړی یا کۀ چرے دا کار سوا د حاکم نه بل څوک کولے شی یا دِ صرف هغے لره بد اوګنړی په زړۀ سره. دامسئله ده او دا د محققینو علماؤ په نزد صواب دے. او بعضے وائی چه په هر حال کښ به ورته په ژبه وینا کوی بیا کۀ چرے قتل کړے شی یا ورته ضرر اورسیږی نو په هغے دِ صبر اوکړی. د قاضی عیاض کلام ختم شو.

امام الحرمین وائی چه په رعیت کښ هر سړی ته دا حق حاصل دے چه کبیره ګناه کونکے به منع کوی د هغے ګناه نه خو جنګ به ورسره نۀ کوی او وسله به پسے نۀ اوچتوی. او کۀ چرے هغه نۀ منی نو بادشاه وقت ته به اطلاع ورکوی بیا کۀ بادشاه هم په ظلم باندے مستعد وی او د شریعت د مخالفت نه نۀ رااوړی او په پوهه کولو نۀ پوهیږی. نو تول مسلمانان کوم چه د رائے خاوندان وی به یو خائے شی او دغه بادشاه لره به د تخت نه کوز کړی. اګر کۀ په دے کښ د وسلے اوچتولو ضرورت راشی او وینے توئ شی او جنګ جوړ شی. دا کلام دے د امام الحرمین او کوزول دبادشاه عجیبه ده. او محموله ده په دے صورت باندے چه هر کله د بادشاه د کوزولو نه د بل فساد یره نۀ وی چه هغه ددے نه هم لوئے وی. او امر بالمعروف کونکی ته د تجسس او د کورونو د لټولو اختیار نشته دے بلکه هر کله چه هغه څۀ بده خبره وینی نو هغه به ورانوی. دا کلام دے د امام الحرمین. او قاضی القضاة ماوردی ویلی دی محتسب له بحث کول نۀ دی پکار د هغه ګناهونو نه چه هغه ظاهر نۀ وی بیا کۀ چرے ګمان غالب وی چه بعضے خلق داسے کارونو لره پټوی نو په هغے کښ دوه قسمه دی.

یو قسم خو دا چه د هغے تدارک ورسته د واقع کیدو نه ګران وی یعنی سخت وی. لکه یو سړے محتسب لره خبر کړی چه فلانے سړے د فلانئ ښځے سره په تنهایئ کښ زنا کول غواړی. یا فلانے فلانے قتلول غواړی. نو دیر زر محتسب لره تجسس کول پکار دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللهُ فِي أُمَّةٍ قَبْلِي إِلَّا كَانَ لَهُ مِنْ أُمَّتِهِ حَوَارِيُّونَ وَأَصْحَابٌ يَأْخُذُونَ بِسُنَّتِهِ وَيَقْتَدُونَ بِأَمْرِهِ ثُمَّ إِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوفٌ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ وَيَفْعَلُونَ مَا لَا يُؤْمَرُونَ فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَيْسَ وَرَاءَ ذَلِكَ مِنَ الْإِيمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی الله تعالی خمانه مخکښ داسے یو نبی نهٔ دے رالیږلے چه د هغهٔ په امت کښ حواری نهٔ وی او صحابه نهٔ وی چه د هغهٔ په طریقه باندے چلیږی او د هغهٔ د حکم پیروی کوی. بیا د هغهٔ نه پس داسے نالائقه خلق پیدا کیږی چه هغه په ژبه سره وائی او کوی نه او هغه کارونه کوی چه د هغے حکم نهٔ کوی. بیا چه څوک د دغه نالائقه خلقو سره په لاسونو جنګ کوی هغه مومن دے. او څوک چه ورسره جنګ کوی په ژبه سره (او هغوی ته بد وائی او د هغوی د خبرو رَد کوی) هغه هم مومن دے. او څوک چه ورسره جنګ کوی د زړهٔ نه (یعنی هغوی ته بد ګوری) هغه هم مومن دے. او د دے نه پس د اوری د دانے برابر ایمان هم نهٔ دے. (یعنی کهٔ په زړهٔ سره ئے هم بد او نهٔ ګنړی نو په هغه کښ د ذره برابر هم ایمان نشته

او د دے واقعے بندوبست کول پکار دی دغه شان کهٔ د محتسب نه سوا نورو خلقو ته خبر رسیدلے وی. نو هغوی لره هم بندوبست کول پکار دی.

دویم هغه دے چه هغه د دے نه کم دے او په دے کښ تجسس او لټون جائز نهٔ دے. لکه د چا د کور نه د باجے غږولو آواز راځی نو د باهر نه به ئے په آواز سره منع کوے خو کورته د ننه به نهٔ ورځی. او ماوردی د "احکام سلطانیه" په آخر کښ یو ښکلے باب د احتساب په باب کښ لیکلے دے چه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په قاعدو باندے مشتمل دے. او مونږ په دے مقام باندے د هغهٔ مطلبونه بیان کړی دی. او کلام مو اوږد کړے دے. د دے دپاره چه مفید دے. او دا باب د اسلام یو لوئے باب دے او د دے ته ډیر زیات حاجت پریوزی. (نووی)

په السراج الوهاج کښ دی چه مسلمانانو په دے خبره باندے اتفاق کړے دے چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر واجب دے. او ویلی دی چه دا دواړه د دین لوئے ستنے دی. او دا واجب دی هر مسلمان باندے. په القول الجمیل کښ دی چه د امر باالمعروف او نهی عن المنکر ادب دا دے چه د نرمئ او ملائمت سره وی او سختی او شدت بادشاهانو لره ښهٔ دے. الله تعالی فرمایلی دی وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ او بحث کوه د دوی سره په ښهٔ طور سره. په اودس او مانځهٔ کښ د امر باالمعروف طریقه داده مثلا چا لره ونے چه هغه خپو لره په ښهٔ طریقه نهٔ وینځی نو دا حدیث ورته واوروه خرابی ده د کوسو د جهنم په عذاب سره. یا مونځ په ښهٔ طریقه نهٔ کوی نو دا حدیث ورته واوروه. "بیا مونځ اوکه ځکه چه تا مونځ نهٔ دے کړے" او په جامے او کلام وغیره کښ په دے شان الله پاک فرمایلی دی وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. یعنی ستاسو نه څهٔ خلق داسے کیدل پکار دی چه هغه د نیکو طرفته رابلل کوی او د بدئ نه منع کول کوی او د ښے خبرے حکم کوی نو دغه خلق خلاصے موندونکی دی په ورځ د قیامت د عذاب نه.

قَالَ أَبُو رَافِعٍ فَحَدَّثْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ فَأَنْكَرَهُ عَلَيَّ فَقَدِمَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَنَزَلَ بِقَنَاةَ فَاسْتَتْبَعَنِي إِلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يَعُودُهُ فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَلَمَّا جَلَسْنَا سَأَلْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ عَنْ هٰذَا الْحَدِيثِ فَحَدَّثَنِيهِ كَمَا حَدَّثْتُهُ ابْنَ عُمَرَ قَالَ صَالِحٌ وَقَدْ تُحُدِّثَ بِنَحْوِ ذٰلِكَ عَنْ أَبِي رَافِعٍ

ابو رافع (چا چه د دے حديث لره د ابن مسعودؓ نه روايت کړے دے او نوم د هغهٔ اسلم يا ابراهيم يا هرمز يا ثابت يا يزيد وو چه د رسول اللهﷺ آقاوو) وائي چه ما دا حديث د عبد الله بن عمرؓ نه روايت کړے دے هغوی نه منل او انکار ئے اوکړو. اتفاقاً خما خواله عبدالله بن مسعودؓ راغے او په قناة کښې (قناة د مدينې په واديانو کښې د يوے وادئ نوم دے) کوز شو نو عبد الله بن عمرؓ زهٔ د خان سره بوتلم د عبد الله بن مسعودؓ عيادت لره زهٔ د هغوی سره لاړم هر کله چه مونږ کيناستو نو ما د عبد الله بن مسعودؓ د نه د دے حديث په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی په دے شان بيان اوکړو لکه څنګه چه ما ابن عمرؓ ته بيان کړے وو. صالح بن کيسان اووے دا حديث د ابورافع نه په دے شان بيان شوے دے[1]

---

[1] حضرتﷺ اوفرمايل الله تعالى خما نه وړاندے يو نبي داسے نه دے راليږلے چه د هغهٔ په امت کښې حواري نه وي د حواري معنى مخلص او بزرګان خلق دي چه هغه د هر قسم عيب نه پاک وي او مددګار يا جهاد کونکے يا د پيغمبر نه پس د خلافت مستحق دي

عبد الله بن مسعود راغے او په قناة کښې کوز شو. نووي رحمه الله وائي قنات په فتح د قاف داسے ذکر شو دے لره د حُميدي په کتاب الجمع بين الصحيحين او اکثرو نسخو کښې هم دغه دے. او د مسلم اکثرو روايت کونکو بفنانه روايت کړے دے په فاء موحده سره او فناء وائي هغه ميدان چه هغه د کور مخے ته وي دغه شان ابوعوانه اسفرائني روايت کړے دے قاضي عياضؒ وائي د سمرقندي روايت په قناه قاف سره صحيح دے او د جمهور روايت بفنانه خطا دے او تصحيف

صالح بن کيسان وائي په دے شان دا حديث د ابورافع نه روايت کړے شوے دے يعني صالح بن کيسان وائي چه دا حديث د ابورافع نه او هغهٔ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے دے. او په دے کښې د عبد الله بن مسعودؓ ذکر نشته دے بخاري په خپل تاريخ کښې په دے شان سره د اختصار د ابورافع نه او هغهٔ د رسول اللهﷺ نه دِے حديث لره نقل کړے دے ابوعلي جيلانيؒ وائي چه امام احمد بن حنبلؒ وائي دا حديث محفوظ نهٔ دے او دا کلام د ابن مسعودؓ د کلام سره نه ملاوېږي هغه خو دا روايت کوي چه داسے وخت صبر کوه تر دے پورے چه خما سره ملاو شے دا کلام دے د قاضي عياضؒ او شيخ ابو عمرو وائي چه دد دے حديث نه امام احمدؒ انکار کړے دے او د دے په اسناد کښې حارث بن فضيل انصاري دے

ابو عبد الله مدني بجلي وائي هغه ثقه دے. او ددهٔ نه روايت کړے دے د ثقاتو يو جماعت او مونږ ددهٔ ذکر د ضعفا په کتابونو کښې نه دے موندلے دے نه علاوه حارث منفرد نهٔ دے دد دے حديث سره بلکه متابعت کړے دے د دهٔ بل لکه څنګه چه د صالح بن کيسان د کلام نه معلومېږي دارقطني په کتاب العلل کښې وائي چه دا حديث په نورو طريقو سره هم روايت شوے دے په دوی کښې يو روايت دے د ابو واقد ليثي د ابن مسعود رضيؓ نه او هغوی د رسول اللهﷺ نه او دا چه د ابن مسعودؓ نه روايت دے چه تاسو صبر

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا كَانَ مِنْ نَبِيٍّ إِلاَّ وَقَدْ كَانَ لَهُ حَوَارِيُّوْنَ يَهْتَدُوْنَ بِهَدْيِهِ وَيَسْتَنُّوْنَ بِسُنَّتِهِ مِثْلَ حَدِيْثِ صَالِحٍ وَلَمْ يَذْكُرْ قُدُوْمَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَاجْتِمَاعَ ابْنِ عُمَرَ مَعَهُ

د عبد الله ابن مسعودؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ فرمائيلي دي يو نبي داسے نهٔ دے تير شوے چه د هغهٔ حواريان نهٔ وي. هغه د هغهٔ يعني د خپل نبي په لاره باندے چليږي. او د هغهٔ په سنتو باندے عمل كوي. بيانے روايت په دے شان بيان كړو لكه څنګه چه وړاندے تير شي. مګر په هغے كښې د ابن مسعودؓ د راتول او د هغهٔ سره د ابن عمرؓ د ملاويدو څهٔ ذكر نشته دے.

بَاب تَفَاضُلِ أَهْلِ الإِيمَانِ فِيهِ وَرُجْحَانِ أَهْلِ الْيَمَنِ فِيهِ

باب: د ايماندارو د يو بل نه كم او زيات او د يمن د خلقو ايمان زياتيدل

عَنْ أَبِي مَسْعُوْدٍ قَالَ أَشَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ نَحْوَ الْيَمَنِ فَقَالَ أَلاَ إِنَّ الإِيمَانَ هَهُنَا وَإِنَّ الْقَسْوَةَ وَغِلَظَ الْقُلُوبِ فِي الْفَدَّادِينَ عِنْدَ أُصُولِ أَذْنَابِ الإِبِلِ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنَا

د ابو مسعودؓ (عقبه بن عمرو انصاريؓ) نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اشاره اوكړه په خپل لاس سره د يمن طرفته (چه دا يو ملك دے په جزيره عرب كښې جنوبي مشرق طرفته د مدينے نه. چه په هغے كښې ډير ښهرونه او كلي دي. صنعاء د هغه ځائے يو مشهور ښهر دے) او اُونے فرمايل خبردار ايمان دلته دے. او تريخ والے او د زړونو سختي په هغه

كوي ترد ے پورے چه خماسره ملاؤ شي: نو دا په هغه موقع باندے دے چه كوم ځائے د قتل او وينے توئيدو او د فتنو يره وي او په دے حديث كښې چه كوم حكم دے. د نالائقو سره د جهاد كولو په لاسو سره او په ژبه سره. او د ژبے سره دا حكم په هغه موقع باندے دے چه هلته د څهٔ فتنے د پورته كيدو يره نهٔ وي علاوه دد ے نه په دے حديث كښې د ورمبنو امتونو بيان دے. او دد ے اُمت ذكر نشته دے ختم شو كلام د ابو عمرو او دا ظاهر دے او د امام احمد رحمه الله قدح په دے حديث كښې ډيره عجيبه ده (انتهى ما قال النووي)

السراج الوهاج كښې دي چه اګر چه دے حديث كښې دد ے امت ذكر نشته ليكن حضرتﷺ اشاره كړے ده چه داسے به ستاسو په امت كښې هم وي په دے قول سره فَمَنْ جَاهَدَهُمْ يعني څوك چه ددوي سره جهاد كوي نو څهٔ وجه نشته چه دے په امت كښې شامل نهٔ وي او اعتبار به د عموم د لفظ وي دويمه دا چه مطلب دد ے حديث په نورو احاديثو كښې هم نقل دے. حضرتﷺ فرمايلي دي خَيْرُ الْقُرُوْنِ قَرْنِيْ د آخر د حديث پورے نووي رح وائي دد ے حديث په اسناد كښې څلور تابعي دي چه د يو بل نه روايت كوي او صالح او حارث او جعفر او عبد الرّحمن يو اسناد مخكښې هم تير شوے دے. او ما يو رساله جوړه كړے ده په دے قسم رباعي اسنادو كښې په هغے كښې بعضے اسناد دادے دي چه په هغے كښې څلور صحابه كرام رضي الله عنهم د يو بل نه روايت كوي. او څلور تابعي رح د يو بل نه

الشَّيْطَانُ فِي رَبِيعَةَ وَمُضَرَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً الْإِيمَانُ يَمَانٍ وَالْفِقْهُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ

خلقو کښې ده چه هغه چلول کوی د اوښانو د لکۍ د ویخ سره چه د هغه خانې نه د شیطان دوه ښکر راخیژی یعنی په قوم د ربیعه او مُضَر کښې [1] د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلی دی د یمن خلق راغلل پخپله د مسلمانیدو دپاره هغه خلق نرم زړی دی ایمان هم د یمن او فقهه هم د یمن او حکمت هم د یمن [2].

---

[1] په غیاث اللغات کښې دی چه یمن په قلیم اول او دویم کښې یو مشهور ملک دے. او دا ملک د مکے معظمے نه ښی طرفته واقع دے په دے واسطه دے ته یَمَن وائی. ځکه چه کعبے ته عربو یو انسان ویلے دے چه د هغهٔ خله پورب طرفته ده او شا د هغهٔ پچهم طرف ته. او حضرت صلی الله علیه وسلم یمن طرفته اشاره اوکړه او د هغوی تعریف ئے اوکړو. په دے واسطه چه د هغه خانے خلقو ډیر ایمان راوړے وو. او د یورپ طرفته ئے اشاره اوکړه او د هغوی مُذمت ئے اوکړو یعنی قوم د ربیعه او مُضر چه د هغوی سره اوښان وو. په دے واسطه چه د اسلام ډیر مخالف پاتے شو د شیطان د دوو ښکرونه مراد نمر دے. په دے واسطه چه هر کله نمر راخیژی نو شیطان خپل دواړه ښکرونه (یعنی د سَر دواړه گوټونه) په هغه باندے اړدی چه د کافرانو سجده دهٔ ته وی تحفة الاخیار

نووی رحمه الله وائی د شیطان د قرن نه مراد د هغهٔ د سر دواړه گوټونه دی. او بعضو ویلی دی چه د هغه دواړه جماعتونه دی چه هغوی لره هغه لیږی د خلقو د گمراه کولو دپاره او بعضو ویلی دی چه دهغه دواړه گروپونه د کافرانو نه او مقصود د دے نه دا دے چه مشرق یعنی د یورپ په طرف د شیطان قبضه زیاته ده. لکه چه په دویم حدیث کښې دی چه د کفر سَر د مشرق طرفته دے. او د حضرت ﷺ په زمانه کښې دا حال وو. ځکه چه په دغه وخت د یورپ طرفته چه کوم ملکونه واقع وو لکه هند او چین او پخپله د عربو په ملک کښې نجد وغیره هلته ایمان بالکل نهٔ وو. او ټول کفر کفر وو. او کوم وخت چه دجّال راوخی نو هغه به هم د مشرق د طرفنه راوخی. په دغه وخت کښې به هم د کفر زور د مشرق طرفته وی. او لوئے لوئے فتنے او فسادونه د دغه طرفنه واقع شوی دی. او دا طرف دے د جاهل وحشی ترکیانو چه هغه د انتها درجے جنگی او فساد کونکی وی. او فتنه د ترکیانو د "هلاکو" په زمانه کښې او لوټ کول د هغوی بغداد لره او ورانول خلافت عباسی لره اوقتلول په لکونو مسلمانانو لره د هغوی دلاس نه په تاریخ کښې مشهور دی. او دا یوه ډیره لویه فتنه وه چه د هغے په مثل په اسلام کښې ډیر کم شوی دی. بیا فتنه د تیمور لنگ او د دغه فتنو په نورو حدیثونو کښې هم حضرت ﷺ خبر ورکړے دے

[2] نووی وائی دا چه ئے فرمایلی دی چه ایمان د یمن دے. د دے لره علماؤ د ظاهر نه راگرزولے دے. د دے دپاره چه د ایمان شروع د مکے نه شوے او بیا د مدینے نه د مغرب امام ابو عبید په دے باب کښې څو اقوال بیان کړی دی. یو خو دا چه د یمن نه مراد مکه ده ولے چه په تهامه کښې ده. او تِهامه په ملک یمن کښې داخله ده. دویمه دا چه د یمن نه مراد مکه او مدینه دواړه دی. د دے دپاره چه دا حدیث هغوی په تبوک کښې ویلے دے. او مکه او مدینه د تبوک او د یمن په مینځ کښې دی. نو اشاره او کړه هغه د یمن طرفته. یعنی د یمن د طرف په طرف ئے اشاره اوکړه او مراد د هغوی د مکے او مدینے نه وو. د دے وجے نه هغوی اوفرمایل چه ایمان د یمن دے ولے چه هغه وخت مکه او مدینه دواړه د یمن طرفته وو. دریمه دا چه د یمن نه مراد د اِنصارو خلق دی. د دے دپاره چه انصار په اصل کښې د یمن اوسیدونکی وو. بیا د ایمان نسبت ورکړے شو دانصارو طرفته ځکه چه هغوی د ایمان مدد گار وو. او دا اختیار کړے دے ډیرو خلقو او په ټولو کښې دا قول ډیر ښهٔ دے. شیخ ابوعمرو ویلی دی چه کله چرے ابوعبید او کوم چه دهٔ تابع شوی وو. د حدیث الفاظو ته

کتلے او په هغے کښې نے تامل کولے نو دا تاویل به نے نۀ کولو او ظاهر حدیث لره به نے نۀ پرېخودۀ. او دا به نے وے چه مراد د یمن خلق دے ددے دپاره چه په یو روایت کښې دی چه تاسو له د یمن خلق راغلل. او دا خطاب دے د انصارو طرفته نو ضرور به د یمن والاوو نۀ د انصارو نه سوا نور خلق مراد وی. په دے شان باندے په دے روایت کښې چه کوم دی چه د یمن خلق راغلل. نو ظاهره خبره ده چه دغه وخت انصار راغلی نۀ وو. دویمه دا چه حضرت ﷺ مخکښې د هغوی ښکلی صفات بیان کړل چه هغه نرم زړی دی بیا د هغے نه پس نے لووے چه ایمان هم د یمن دے. نو دا اشاره ده د هغو خلقو طرفته کوم چه د یمن نه راغلی وو د مکے او مدینے طرفته په ښۀ شان په دے باندے قائمیږی. دے ته نسبت ورکوی ددغه سړی په طرف او د یمن والو دا حال و په دغه وخت په ایمان کښې او د هغه خلقو چه رسول الله ﷺ له راغلی وو د یمن والو نه او د هغوی د وفات نه پس هم بعضے یمن والو په ایمان کښې داسے کامل تیر شوی دی لکه أویس قَرنی او ابو مسلم خولانی او د هغوی په شان نور خلق چه د هغوی زړونه سلیم وو او ایمان نے قوی وو. نو د ایمان نسبت د هغوی طرفته ددے وجے نه دے چه هغه په ایمان کښې کامل وو. او ددے نه غرض دا نۀ دے چه ددوی نه سوا نور خلق مومنان نۀ دی. په دے صورت کښې په دے حدیث کښې چه ایمان په حجاز کښې دے منافات به هم نۀ وی. بیا مراد په دغه حدیث کښې د یمن والاوو نۀ هغه یمن والا دی. چه هغه په وغه وخت موجود وو. نۀ چه د هرے زمانے یمن والا. ددے دپاره چه د لفظ نه دا نۀ معلومیږی او دا حق دے او مونږ د الله شکر ادا کوو چه هغه مونږ ته نیغه لار اوښوده. انتهٰی.

په السراج الوهاج کښې دی چه د لفظ نه نۀ وتل څۀ د یمن والو سره خاص نۀ دی بلکه دا حکم په هر حدیث کښې چلیدے شی چه په هغے کښې د کوم یو ملک والو فضیلت بیان شوے دے. لیکن صحیح صحیح روایتونه کوم چه د یمن والو په غوره والی یا د بل ملک په غوره والی کښې راغلی دی د هغه روایتونو نه د أوسه پورے خلق د هغه ملک والو فضیلت رااوباسی. ددے دپاره چه د اصولو تاثیر په فروعو کښې ضرور وی. بیا د تجربے نه دا خبره معلومه شوے ده خه لکه ایمان او فقهه او حکمت په یمن کښې په هره زمانه کښې پاتے دے. داسے په بل یو ملک کښې نۀ دے پاتے لکه ددے طرفته چه آئنده اشاره کیږی. او دومره قدرے پوره ده د حدیثو د مضمون د صحت دپاره. او الله پاک خاص کوی په خپل رحمت سره هغه چا لره چه اوغواړی. نو څۀ وجه نشته چه حدیث لره خاص کړی د هغه خلقو نه چه هغه موجود وو په دغه زمانه کښې او د الله رحمت ددے نه زیات فراخه دے. انتهٰی

او دا چه نے کوم فرمایلی دی چه فقهه هم د یمن ده. نو د فقهه نه مراد دلته ددین پوهه ده. بیا په اصطلاح د شرع کښې اهل اُصولو د فقهه دا معنٰی ګرځوی چه هغه علم دے د احکام شرعیه عملیه د هغوی ددلائلو سره.

بیائے فرمایلی دی چه حکمت هم د یمن دے. د حکمت په باب کښې څو قولونه دی لیکن ښکلے او ښۀ قول دادے چه حکمت عبادت دے په هغه علم سره چه د الله په معرفت باندے مشتمل دے. او ددے په وجه سره بصیرت بیرته کیږی. اونفس صحیح کیږی او حق معلومیږی او توفیق د عمل ورکیدے شی. او د خواهشاتِ نفسانی نه بچکیدل راتلے شی او حکیم هغه دے چه په هغه کښې دا تولے خبرے موجود وی. ابوبکر بن دُرید وائی کومه کلمه چه د زجر وی یا د نصیحت وی او کومه خبره چه غوره والی طرفته بَلنه کوی او د بدئ نه منع راولی هغه حکمت دے او هغه حکم دے او دغه مقصود دے په دے حدیث کښې اِنَّ مِنَ الشِعرِ لَحِکْمَةَ یعنی بعضے شعر حکمت وی. (کذا قال النووی). او په السراج الوهاج کښې دی چه حکمت د رسول الله ﷺ حدیث ته وائی چه د الله د کلام نه ورسته دے او یو جماعت د سلفو ددے آیت تفسیر داسے کړے دے. یُعَلِّمُهُمُ الْکِتٰبَ وَالْحِکْمَةَ. تفسیر دادے چه په دے شان ددے آیت اُدْعُ اِلٰی سَبِیلِ رَبِّكَ بِالْحِکْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ نو صفا د حدیث په معنو کښې دادے چه د حکمت نه حدیث نبوی مراد دے چه په هغے باندے د حدیث کتابونه مشتمل دی. اوفرمایلی دی چه بعضے شعر حکمت دے. ددے مطلب دادے چه بعضے شعر د حدیث موافق وی هغه ښۀ دے او کوم شعر چه د حدیث نبوی ﷺ خلاف وی هغه قبیح دے.او کومه چه ابن الصلاح وغیره د حکمت معنٰی بیان کړے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَضْعَفُ قُلُوبًا وَأَرَقُّ أَفْئِدَةً الْفِقْهُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ

د ابوهریره رضی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه تاسو له یمن والا راغلل. د هغوی زړونه ضعیف او زړونه ئے نرم دی فقه هم یمنی ده او حکمت هم یمنی دے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأْسُ الْكُفْرِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِي أَهْلِ الْخَيْلِ وَالْإِبِلِ الْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْوَبَرِ وَالسَّكِينَةُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ

د ابوهریره رضی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلی دی د کفر سر د مشرق طرفته دے. لوئی او توقے مسخرے کول او فخر تکبر کول په اسونو والو او اوبنانو والو کښې دی چه هغه چغے وهی او وبر والادی او غریبی او نرمی په خاوندانو د بزو کښې ده[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابو هریره رضی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ایمان په یمن

ده هغه د فلاسفو د تعریف سره ملاویږی او هغے ته نږدے دی. او یو دلیل دد ے خبرے چه د حکمت نه مراد حدیث شریف دے داد ے چه دد ے سره ئے فقهے لره بیان کړه او دا حدیث د نبوت د نخښو نه یوه نخښه ده. او په د ے کښې د رسول الله ﷺ د طرف نه په یمن او په خاوندانو د یمن بانده شهادت دے. چه په دوی کښې ایمان دے او حدیث دے او فقهه ده او دا دومره لوئے فضیلت دے چه دد ے نه لوئے بل یو فضیلت نشته دے. او ډیر آیتونه او حدیثونه ددوی په شان کښې او ددوی د ایمان په صفت کښې وارد شوی دی چه هغے لره علامه شوکانی رح په خپل تصانیفو کښې بیان کړی دی او ما هغے لره په سلسلة المسجد وغیره کښې ذکر کړی دی او د یمن او د صنعاء بیان په ډیر کتابونو کښې لیکلے دے. چه په هغوی کښې حطیرة القدس او ریاض المرتاض دی او ما د یمن والو نه د ډیر علماؤ حال چه هغه په کتاب او سنت بانده چلیدونکی وو په کتاب "اتحاف النبلاء" او "التاج المکلل" کښې ذکر کړے دے او شکر دے د خدائے په دے خبره چه د قرآن او حدیث او د فقهے په علم کښې مونږ ته د اهل یمن نه توسّل دے انتهی

[1] فواد او قلب دواړه د شهرت په بناء بانده یو دی. او بعضو ویلی دی فواد مغائر دے د قلب او عین دے د قلب او بعضو ویلی دی چه فواد باطن قلب دے. او بعضو ویلی دی چه فواد د زړهٔ پرده ده او د زړهٔ د ضعیف کیدو نه دا مراد دے چه په دے کښې د الله جل شانه نه یره او عاجزی ده. او د نصیحت موندلو قابل دے او د سختئ او کلک والی نه سلامت دے لکه څنګه چه د نورو خلقو په زړهٔ کښې دے. او د هغے نه ضعف قلب مراد نه دے کوم چه د حاکمانو په نز بانده یو لوئے عیب دے

[2] په حدیث کښې د فَدّادِین لفظ دے دد ے په معنو کښې اختلاف دے ابوعمرو شیبانی وانی دا د فدّاد جمع ده په تشدید د دال سره او فاد غواؤ او غوایانو ته وانی چه د هغوی نه د زمینداریٔ کار اخستے شی دد ے نه مراد کروندګری او زمیندار ملکی خلق دی لیکن نور دد ے نه انکار کوی او وائی چه فادین د فدید نه دے چه د هغے معنیٰ ده چغے وهل او شور کول او مراد تر هغه خلق دی چه هغه په اوبنانو او اسونو او په پټو کښې چغول کوی او حد درجه بداخلاقه او سخت وی. او ابوعبیده وائی د فدادین نه مراد هغه خلق دی چه د هغو سره ډیر اوبنان دی ددوو سو نه واخله د زرو پورے (نووی) په تحفة الاخیار کښې دی چه د څناورو د صحبت هم تاثیر وی د اسونو او اوبنانو خدمت کونکے اکثر بداخلاقه دی او د بزو څرونکی زیات مسکینان دی په دے واسطه پیغمبرانو علیهم السلام بزے څرولی دی (او وبر والادی) وبر وانی د اوبنانو ویختو ته او دا د اوبنانو والو سره وی نه د اسونو والو سره وی او شاید مراد هغه خلق وی چه د هغوی سره اسونه او اوبنان دواړه وی.

وسنده قَالَ الْإِيمَانُ يَمَانٍ وَالْكُفْرُ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالسَّكِينَةُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ وَالْفَخْرُ وَالرِّيَاءُ فِي الْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْخَيْلِ وَالْوَبَرِ

کښې دے او کفر د مشرق په طرف دے. او غریبي او اطمینان په بزووالو کښې دے او لوئ او خان ښودل په شور کونکو کښې دی چه هغه اوښان او اسونه ساتي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِي الْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْوَبَرِ وَالسَّكِينَةُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئې ده لوئي او تکبر کول په شور کونکو کښې چه هغه اوښان لري او غریبي او مسکیني په بزووالو کښې ده.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِلَظُ الْقُلُوبِ وَالْجَفَاءُ فِي الْمَشْرِقِ وَالْإِيمَانُ فِي أَهْلِ الْحِجَازِ

د جابر بن عبدالله ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. د زړونو سختي او جفا په مشرق والو کښې دے او ایمان په حجاز والو کښې دے[1]

---

[1] د مدینے نه: مشرق په طرف د مضر کافران اوسیدل چه هغه ډیر زیات سخت خلق وو. او د حضرت ﷺ ملاقات له راتلونکے خلق به ئې تنګولو او حجاز د عربو یوه قطعه ده چه په هغې کښې مکه او د مدینه او طائف آباد دی.

په السراج الوهاج کښې دی چه په دے حدیث کښې د مشرق مذمّت او د حجاز تعریف دے او یمن په حجاز کښې داخل دے. او هندوستان په مشرق کښې دے او دا د یوے تیرے شوے زمانې حکایت دے بیا الله تعالی په هندوستان باندے خپل فضل اوکړو او په هغې کښې ئې اسلام او مسلمانانو لره خوارهٔ کړل او د هند ډیر زیات خلق په اسلام باندے مشرف شولو دا د الله فضل دے: هغه چه چا لره غواړي ورکوي او په هندوستان کښې ډیر لوئې لوئې علماء او فضلاء تیر شوے دی. او ډیر محدّثین چه په کتاب او سنت باندے ئې عمل کولو او د هند اوسیدونکی هغه بعضے بدعتیان چه هغه ددے حدیث نه خبرے را اوباسی چه د مشرق نه مراد د نجد خلق دی او دا حدیث په نجدوالو باندے صادق راځي او په دے بناء باندے تکفیر کوي د شیخ محمد بن عبد الوهاب نجدي ؒ چه هغه د نجد نه راوتے او حجاز ته راغلے وو او هغوی توحید لره خور کړے وو او شرک لره ئې ختم کړے وو نو دا ددے مبتدعینو د هند سره تعصب او عناد دے ددے وجے نه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه د کفر لوړغر په یورپ کښې دے. او نجد ئې خاص کړے نهٔ دے او مشرق عام دے ټول هغه ملکونو لره شامل دے چه هغه د مدینے نه یورپ طرفته واقع دی هند وی یا سنده. او شیخ محمّد بن عبد الوهاب مسلمان وو عالم وو او د حقے خبرے دعوت ئې ورکوو هغه نهٔ کافر وو او نهٔ د اسلام نه خارج وو بیا ددے حدیث نه به څنګه مراد شي په دے حال کښې چه هر کله په بعضے احادیث صحیحه کښې د نجد والو فضیلت موجود دے. هغوی د یوسړي په باب کښې چه د نجد اوسیدونکے وو فرمایلی دی چه دهٔ خلاصے اوموندو کهٔ چرے هغه رښتونے دے او د حدیث نه مراد هغه سړے دے چه هغه ددے صفت قابل وی یعنی سخت زړے او کافروی او په چا کښې چه دا صفت نشته هغه په حدیث کښې داخل نهٔ دے. خواه مشرقی نجدی یا هندی وی یا مغربی أندلسی وی او دحدیث مفهوم دغه دے.

مترجم مولانا بشیر الدین صاحب مرحوم قنوجی نه اوریدلی وو او فرمایلی ئې وو چه د مشرق نه مراد د "بدایون" قصبه ده چه د مدینے منورے نه د یورپ په طرف واقع ده. او د هغه ځائې نه د شیطان قرن وتلے دے چه هغه په دنیا کښې د بدعت رواج خور کړو علمائے موحّدینو لره ئې فاسقان او کافران جوړ کړل الله تعالی د ددهٔ د شر نه ټول مسلمانان بچ اوساتي آمین یا رب العالمین

بَابُ بَيَانِ أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ وَأَنَّ مَحَبَّةَ الْمُؤْمِنِينَ مِنَ الْإِيمَانِ وَأَنَّ إِفْشَاءَ السَّلَامِ سَبَبًا لِحُصُولِهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ

باب: جنت ته به هم مومنان ځی او د مومنانو سره محبت ساتل په ایمان کښې داخل دی. او د سلام رواج کول د محبت سبب دے

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی تاسو جنت ته نهٔ شئ تلے د کومے پورے چه ایمان رانهٔ وړئ او ایماندار به جوړ نهٔ شئ د کومے پورے چه په خپلو کښې د یو بل سره محبت او نهٔ ساتئ او زهٔ تاسو ته هغه څیز او نهٔ ښایم چه هر کله هغه تاسو کوئ نو په خپلو کښې به مو د یو بل سره محبت جوړیږی. سلام لره په خپلو کښې رواج کړئ[1]

---

[1] : ایماندار به جوړ نهٔ شئ یعنی پوره ایمادار به نهٔ شئ د کومے پورے چه محبت او نهٔ سائئ په خپلو کښې د یو بل سره. او د سلام رواج کولو د امعنی ده چه هر یو د ایمان خاوند ته به سلام کوے خواه کهٔ د هغه سره پیژند گلی وی یا نهٔ وی. او سلام د مینے سبب دے او د دوستئ پیدا کولو کُنجی ده او د سلام په رواج کولو کښې د مسلمانانو په زړونو کښې نزدیکت راځی. او د دے علامت ظاهریږی ولے چه سلام د مسلمانانو نخښه ده چه په نورو قومونو کښې نے ممتاز کوی. او په دے کښې د نفس ریاضت دے او عاجزی ده. او د نورو مسلمانانو تعظیم دے.

بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې د عمار بن یاسر رضی الله عنهٔ نه روایت کوی هغوی وائی دری خبرے دی چا چه هغه حاصلے کړے نو ایمان نے حاصل کړو. یو خو انصاف په خپل نفس کښې دویم تولو ته سلام کول، دریم د تنګئ په وخت خرچ کول او د بخاری نه سوا نورو خلقو د دے قول لره مرفوعًا روایت کړے دے. او په سلام کښې یوه بله فائده داده چه په دے سره عداوت او دشمنی لرے کیږی. او په خپلو کښې بغض حَسد لرے کیږی چه هغه نیکئ ورانوی. مګر سلام به خاص د خدائے په واسطه کوی. نهٔ د څهٔ خواهشات نفسانی نه او نهٔ به سلام لره په خپلو دوستانو او خپلوانو پورے خاص کوی (کذا ذکره النووی)

په تحفة الاخیار کښې دی چه د جنت ملاویدل په ایمان باندے موقوف دی او ایمان په محبت باندے موقوف دے. نو معلومه شوه چه جنت په محبت باندے موقوف دے. بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د محبت حاصلولو آسانه طریقه د السلام علیکم کول اوښودل. په سلام سره په دے واسطه محبت حاصلیږی. چه دا دعائے خیر دے. یعنی خدائے پاک د تا د هرے بلا نه سلامت اوساتی. او معمول دے چه بنده خپلے خیر خواه دُعا غوښتونکی لره خپل دوست ګنړی. نو هغه هم دهٔ سره محبت شروع کړی. هر څنګه سخاوت او احسان هم د محبت سبب دے. لیکن احسان او سخاوت د تولو عالم د مسلمانانو نه نهٔ شی کیدے. او سلام آسانه خبره ده چه د هر چا نه کیدے شی. په دے وجه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دے لره خاص کړے اوښودلے دے لیکن افسوس عجیبه اُلته زمانه شوه. چه د جهالت او غرور په سبب سره اوس بعضے خلق په السلام علیکم کولو سره خفه کیږی او دشمنئ نه ملاتړی د محبت او د خیر خواهئ څیز دد ے الته شوو په تړ د دشمنئ سبب شوے دے. انتهی

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ وَوَكِيعٍ

دويم روايت د اعمش نه هم په دے شان دے او هغه دا دے چه پيغمبر فرمايلي دي قسم دے په هغه ذات چه د چا په لاس كښې زما روح دے. چه جنت ته به لاړ نه شي د هغې پورے چه ايمان رانه وړي د اخره پورے. د ابو معويه او وكيع د حديث په شان

بَابُ بَيَانِ أَنَّ الدِّينَ النَّصِيحَةُ

باب دين خير لټولو او رښتيا ويلو او خلوص ته وائي

عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدِّينُ النَّصِيحَةُ قُلْنَا لِمَنْ قَالَ لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ

د تميم داري نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي دين د خلوصو او خير خواهئ نوم دے مونږه اووے د چا خير خواهي؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل د الله او د هغه د كتاب او د هغه د رسول او د مسلمانانو د حاكمانو او د ټولو مسلمانانو[1]

مرحوم وائي ما چه كوم خلق په السلام عليك كولو سره خه شوي ليدلي دي هغه هغه خلق دے چه هغه د انتها درجے جاهل او خكليان دي چه هغوي ته دا هم معلومه نه ده چه د السلام عليكم معنى څه ده كه چرے د هغه خلقو نه څوك په پښتو ژبه كښې اووائي چه خدائے پاك د تاله سلامت لوساتي چه دا بالكل د سلام معنى ده نو خوشحاليږي پس دا دے جاهلانو علاج دا دے چه دوي ته د السلام عليكم معنى اوخوښودلے شي او په دے پوهه كړے شي چه صحابه كرامو رضي الله عنهم به رسول الله صلى الله عليه وسلم نه چه د دين دنيا دواړو هدايت كونكے وو السلام عليكم ويا كوله او دا د اسلام شعار دے ښا ستاسو حقيقت څه دے چه تاسو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو څه نا راضه كيږئ ستاسو د رحم هم څه ده او ستاسو څوك پوښتنه كوي كه چرے تاسو دا بد خيالو مے پريږدئ نو تاسو به د اسلام نه بهر شئ او دے غرور او جهالت په وجه به مو دين او دنيا دواړه تباه شي او د خدائے په لوئے گرفت كښې به راشئ.

[1] نووي وائي چه دا حديث عظيم الشان دے او په دے باندے د اسلام دارومدار دے او هغه چه كوم بعضو ويلي دي چه دا دے څلورو حديثونو نه يو حديث دے چه د اسلام د ټولو خبرو جامع دے نو صحيح نه دے بلكه صرف په دے حديث باندے د اسلام دارومدار دے او دا حديث د مسلم د افرادو نه دے او د تميم داري نه په صحيح بخاري كښې څه روايت نشته او د ده نه په مسلم شريف كښې دے دے نه سوا بل څه روايت دے

پهدے روايت باندے امام ابو سليمان خطابي ويلي دي چه نصيحت يو جامع لفظ دے چه د دے په مثل بل لفظ د عربي په ژبه كښې ډير كم دے او معنى د دے دا ده چه د ټولو نيكو پوخائے كول چه د هغې دپاره نصيحت او كړے شي دغه شان د فلاح لفظ دے په عربي ژبه كښې چه د دنيا او آخرت د هر قسم نيكو جامع دے بعضو ويلي دي نصيحت وئيلے دے د نصح الرجل ثوبه نه يعني او گنډله ئې كپړه خپله نو د نصيحت كونكي كار لره ئې مشابهت ورکړو د گنډلو سره لكه څنگه چه په گنډلو سره كپړه صحيح كيږي دغه شان په نصيحت كولو سره د بل بنده خلل ختميږي او هغه صحيح كيږي او بعضے وائي هغه وئيلے دے د نصحت العسل نه يعني صاف كړو گبين لره د موم نه نو مشابهت ئې ورکړو صفا چرے لره چه په هغې كښې غلط والے نه وي د هغې گبين سره هغه د

موم او حمرے نه پاک کرے شی لیکن د نصیحت په تفسیر کښې حو حطابی او علماؤ په د ے باب کښې بو مجمس کلام وئیلے د ے او په د ے ټولو لره ملاووم او د نصیحت په طور نے بیانوم په مختصر طور باندے د الله دپاره نصیحت داد ے چه په هغه باندے ایمان راوړی او د هغه سره چا لره شریک نه کړی او د هغه په صفاتو کښې بے دینی اختیار نه کړی خومره صفات چه د کمال او جمال دی هغه ټول د هغه دپاره ثابت کړی او هغه لره د ټولو عیبونو او نقصاناتو نه پاک اوګڼړی او د هغه عبادت دپاره تیار شی او د هغه د نافرمانی نه خپل ځان بچ اوساتی د هغه دپاره دوستی کوی او د هغه پاره دشمنی او کوم بنده چه د خدائے نه انکار کوی د هغه سره جهاد کوی او د هغه د احسان اقرار کوی او د هغه شکر گزار شی په ټولو کارونو کښې رښتونے او مخلص وی د ے ټولو خبرو طرفته خلق اغواړی او د ے ټولو ته یا چه په کومو باندے د ے قدرت لری هغوی ته ترغیب ورکړی خطابی وائی په د ے خبرو باندے بنده ته نصیحت حاصلیږی نه الله تعالی ته ولے چه الله پاک بے پرواه د ے د هر نصیحت کونکی د نصیحت نه

دویم دا چه د خدائے د کتاب دپاره نصیحت داد ے چه په د ے خبرو یقین اوکړی چه داد الله کلام د ے او هغه رالیږلے د ے د چا مخلوق کلام د د ے په مثل نه شی کیدے او نه څوک مخلوق د د ے په شان جوړولے شی بیا د د ے لوئی په زړه کښې اولری او د د ے تلاوت کوی په ښه شان چه د تلاوت حق د ے او د ے لره په خوش آوازی سره لولی د درد او د رقت سره د د ے حروف په ښه شان سره ادا کوی کوم خلق چه په د ے کښې تحریف کول غواړی په تاویلاتو سره د هغوی رد اوکړی او څوک چه په د ے باندے اعتراض او طعن کوی د هغے جواب ورکړی کوم مضامین چه په د ے کښې دی د هغے تصدیق اوکړی د د ے د احکامو نه خبردار شی او د د ے په علومو او مثالونو پوهه شی او د د ے په نصیحتونو باندے غور اوکړی او د د ے په عجائب او غرائبو کښې فکر او سوچ اوکړی او په د ے کښې چه کوم آیتونه محکم دی په هغے باندے عمل اوکړی (یعنی د حلالو او حرامو آیتونه او د احکامو آیتونه) او کوم ایتونه چه متشابه دی (یعنی د اعتقاد آیتونه) هغے لره تسلیم کړی یعنی د هغے په ظاهری معنی باندے یقین اوکړی او د هغے حقیقت خدائے پاک ته اُوسپاری په هغے کښې تاویل یا تحریف یا انکار نه کوی، د د ے عام او خاص او د د ے ناسخ او منسوخ اوپیژنی او د د ے علومو لره خوره وی او خلقو لره د د ے طرفته رابلی

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره نصیحت داد ے چه هغه لره د خدائے رالیږلے شوے اوګڼړی او په هغه باندے یقین اولری او څومره خبرے چه هغه ته ورکړے شوی راغلی دی په هغے ټولو باندے ایمان راوړی د هغوی صلی الله علیه وسلم حکم منی او هغوی صلی الله علیه وسلم چه د کومو خبرو نه منع کړے ده د هغے نه منع شی. د هغوی مدد کوی اگر چه هغه وفات موندلے د ے د اسے به کوی لکه هغه چه په دنیا کښې ژوند ے وی او کوم سری چه د هغه دشمن وی د هغه سره دشمنی اوساتی او چه کوم بنده د هغه پیروی اوکړی او د هغه طریقے ژوندئ کړی او د هغه په سنتو باندے محکم وی او د هغه دعوت خوروی د هغه صلی الله علیه وسلم شریعت لره مشهور کړی او دهغه په شریعت باندے چه څوک تهمت لګوی هغه تهمت لرے کوی او د هغه د شریعت علم لره خوره وی او د هغه د شریعت په مضامینو کښې غور کوی او د هغے طرفته خلق راغواړی او د هغے په ایزد کره او ایزد کولو کښې کوشش او نرمی کوی د هغے عظمت او بزرگی کوی او د ے لره د لوستو په وخت په ادب سره لولی او لغوه یا یعنی بے فائد ے خبرے نه کوی بغیر د اراد ے او علم نه به په د ے کښې خبرے نه کوی او کوم خلق چه د قران او حدیث عالمان وی د هغوی به عظمت او عزت کوی او د هغوی اخلاقو او عاداتو لره به اختیاره وی د هغوی په ادب به چلیږی او د هغه د اهل بیتو او اصحابو رضی الله عنهم سره به محبت ساتی او څوک چه د هغه په شریعت کښې بدعت رااوباسی د هغوی نه به جدا کیږی (یعنی د هغه سره به نه شریک کیږی او د هغه مدد به نه کوی) او کوم سرے چه د هغه خاندان یا اصحابو رضی الله عنهم سره دشمنی او بغض حسد ساتی د هغوی نه به جدا کیږی

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ بَايَعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلٰوةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ	د جریر بن عبد الله بجلی ښه روایت دے ما د رسول الله ﷺ نه په مونځ کولو باندے او په زکواة ورکولو باندے او د هر مسلمان په خیر لټولو باندے بیعت کړے دے[1].
عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ بَايَعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى	د جریر بن عبد الله ؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه د هر مسلمان

د مسلمانانو حاکمانو دپاره نصیحت دا دے. چه د هغوی په اقتداء کښې به مونځ کوی. او د هغوی په ملګرتیا کښې به د کافرو سره جهاد کوی. او د حق په خبره کښې به د هغۀ مدد او اطاعت کوی. او هغوی ته به دحقے خبرے حکم کوی او یاده وی به ئے ورته او په نرمئ او محبت سره به نصیحت کوی. او د کومے خبرے نه چه هغه ناخبره وی هغه به ورته ښائی. او په مسلمانانو کښې چه د چا د حق هغه ته خبر نۀ وی نو د هغې نه به ئے خبره وی. او د هغۀ نه به بغاوت او سرکشی نۀ کوی. او د خلقو زړۀ به د هغۀ د اطاعت طرفته مائله کوی. خطابی وائی دا هم د هغۀ دپاره نصیحت دے. چه په هغۀ پسے به مونځ کوی. او د هغۀ سره یو ځائے به د کافرو سره جهاد کوی. زکوٰة به هغۀ لره ورکوی. تُوره به په هغوی نۀ اوچتوی اګر کۀ هغه څۀ ظلم اوکړی. یا بد اخلاقی اوکړی. اود دروغو په خوشامنده به هغه نۀ مغروره کوی. او د هغۀ دپاره به د نیکئ دُعا کوی. او دا ټول په داسے صورت کښې دی چه د مسلمانانو د امامانو نه خلفاء او وغیره مراد وی. چه هغه د مسلمانانو کارونو انتظام کوی د حکومت والا نه او دا مشهور ده. او خطابی هم دے لره نقل کړے ده. بیائے اووے د امامانو نه ددین علماء مراد اخستے شی. او د هغوی دپاره نصیحت دا دے چه د هغوی خبرو لره مَنی چه د قرآن او حدیث مطابق وی. لیکن د عامو مسلمانانو دپاره نصیحت هغه خبره ده. چه هغوی ته هغه خبره اوښائی چه په هغې کښې د هغوی ددنیا او آخرت فائده وی. او هغوی ته ضرر نۀ ورکوی. او هغو ته ددین هغه مد کوی. او د هغۀ د عیبونو لره پټوی. او د هغو ضرر لره لرے کوی. او د هغو د نفعے دپاره کوشش کوی. او هغوی ته د نیکے خبرے حکم کوی. او د بدے خبرے نه ئے په نرمئ او محبت شفقت سره منع کوی. او په دوی کښې چه کوم بزرګ بوډا وی د هغۀ بزرګی او عزت کوی. او کوم بچے چه ورو کے وی په هغۀ باندے شفقت او هغۀ ته د ښو خبرو نصیحت کوی او د هغوی سره دهوکه نۀ کوی او ددوی سره حسد نۀ کوی. او د هغوی دپاره به هغه څۀ خوښوی کوم څۀ چه د خان دپاره خوښوی. او د هغوی دپاره به بد ګڼړی هغه څۀ کوم څۀ چه د خپل خان دپاره بد ګڼړی. او د هغوی دمال یا عزت به حفاظت کوی. په دے شان څومره خبرے چه مونږ د نصیحت بیان کړے دے تولو هغه ته دعوت ورکول دی او د هغوی همت عبادت طرفته لګول دی. او د سلف صالحینو نه بعضے داسے بزرګان وو چه هغوی د نصیحت دپاره د خپلے دنیاد نقصان پروانۀ لرله

دا خلاصه ده دے چه کوم بیان شو د نصیحت په تفسیر کښې. ابن ابطال وائی دد حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه نصیحت ته دین او اسلام ویلے شی. او ددین اطلاق په اعمالو باندے هم دے لکه چه په اقوالو باندے دے. او نصیحت فرض کفایه دے. کۀ بعضے خلق ئے اوکړی نو پوره دے په باقی خلقو باندے به مؤاخذه پاتے نۀ شی. او نصیحت د خپل طاقت په مناسب لازم دے. هر کله چه دا معلومه شی چه ددۀ نصیحت قبلیدے شی. او ددۀ د حکم اطاعت کیدے شی او په دۀ باندے څۀ آفت نۀ شی راتلے. اوکۀ چرے د څۀ آفت یا مصیبت یره وی نو اختیار مند دے کۀ غواړی نصیحت د پریږدی.

[1] اوخاص ئے کړو مونځ لره او زکوٰة لره ولے چه دا دواړه د شهادتینو نه پس ددین لوئے رکنونه دی. او زکوٰة لره ئے ذکر نۀ کړو ددے دپاره چه په دویم روایت کښې دی. بیعت کړے دے په اوریدو او منلو باندے. او روژه په دے کښې داخله ده. بلکه ددین ټول احکام په دے کښې راغلل

اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَلَى النُّصحِ لِكُلِّ مُسلِمٍ

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ بَايَعتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمعِ وَالطَّاعَةِ فَلَقَّنَنِي فِيمَا استَطَعتَ وَالنُّصحِ لِكُلِّ مُسلِمٍ

د خیر خواهئ دپاره بیعت کړے دے

د جریر ؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه بیعت کړے دے د اوریدو او د منلو (یعنی کوم حکم چه ته راته کوے هغه به منم او اورم به ئے) بیا هغه زهٔ پوهه کړم دومره او اونے ویل دکومے پورے چه خما قدرت دے (دا د هغهٔ د شفقت کمال وو په خپل امت باندے چه شاید څهٔ حکم سخت نهٔ شی او نهٔ کیږی نو په بیعت کښں به خلل راشی دد دپاره ئے دومره نور اولوستو چه د کومے پورے خما نه کیدے شی) او په دے خبره باندے ما بیعت اوکړو چه د هر مسلمان خیرخواه به یم[1]

بَابُ بَيَانِ نُقصَانِ الإِيمَانِ بِالمَعَاصِي وَنَفيِهِ عَنِ المُتَلَبِّسِ بِالمَعصِيَةِ عَلَى إِرَادَةِ نَفيِ كَمَالِهِ

باب : په ګناهونو سره د ایمان کمیدل او په وخت د ګناه د ګنهګار نه د ایمان د جدا کیدو یعنی د ګناه د کولو په وخت د ایمان د کمال د نهٔ پاتے کیدو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيرَةَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزنِي الزَّانِي حِينَ يَزنِي وَهُوَ مُؤمِنٌ وَلَا يَسرِقُ السَّارِقُ حِينَ يَسرِقُ وَهُوَ مُؤمِنٌ وَلَا يَشرَبُ الخَمرَ حِينَ يَشرَبُهَا وَهُوَ مُؤمِنٌ قَالَ ابنُ شِهَابٍ فَأَخبَرَنِي عَبدُ المَلِكِ بنُ أَبِي بَكرِ بنِ عَبدِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه زنا نهٔ کوی زناکونکے مګر د زنا کولو په وخت هغه مومن نهٔ وی. او نهٔ غل د غلا کولو په وخت مومن وی او نهٔ شراب څکونکے د شرابو څکلو په وخت باندے مومن وی. ابن شهاب وائی ماته عبد المالک بن ابی بکر بیان کړے دے چه ابوبکر بن عبد الرحمٰن بن حارث دے حدیث لره روایت

---

[1] بیا جریر په خپل بیعت باندے داسے عمل اوکړو چه یو خل ئے خپل غلام لره د اس د اخستو دپاره اولیږه. هغه په درے سوه درهمه یو اس بیعه کړه. او د هغے آس مالک هم د قیمت د اخستو دپاره ورسره راغے. جریر د اس مالک ته اووے ستا د اس ددریو سوو روپو نه د زیات قیمت دے ته دے لره په خلور سوه درهمه را خرخ کړه. هغهٔ اووے ما خو تا لره اختیار درکړے دے چه کوم قیمت مناسب وی راکړه. جریر اووے هغه د خلورو سوو درهمو نه هم د زیات قیمت دے. لهٰذا په پنځهٔ سوه درهمه ئے راخرخ کړه. په دے شان جریر سل سل درهمه زیاتول او مالک په کمه باندے راضی وو. تر دے پورے چه د اتهٔ سوه درهمه پورے ئے قیمت کړو او په اتهٔ سوه ئے واخستو. خلقو اووے داد څهٔ اوکړو؟ جریر ؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه د هر مسلمان سره په خیر هواهئ کولو باندے بیعت کړے وو نو د اس خرخونکے هم مسلمان وو او دا خبره د خیر خواهئ نهٔ وه چه زهٔ د ددهٔ مال په کم قیمت سره واخلم او دهٔ لره د نقصان ورکړم روایت کړے دے دے لره طبرانی.

الرَّحْمٰنِ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَانَ يُحَدِّثُهُمْ هٰؤُلَاءِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ثُمَّ يَقُولُ وَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يَلْحِقُ مَعَهُنَّ وَلَا يَنْتَهِبُ نُهْبَةً ذَاتَ شَرَفٍ يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ

كوى د ابو هريره ؓ نه بيانئے اووے چه ابوهريره په دے كښې دومره نو ملاو كړى وو نو لوټ كونكے داسے لوټ چه هغه لوئے وى (يعنى حقير څيز نۀ وى) چه د هغے طرفته د خلقو نظر پورته شى د واپس كيدو په وخت مومن وى[1].

---

[1] نووى وائى چه علمائے محققين دد ے حديث معنى داسے بيانوى چه دے كارونو لره د كولو په وخت ددۀ ايمان كامل نۀ وى. او داسے مهاوره ډيره ده چه يو شے نفى كوى او مراد د هغے نه د كمال نفى وى. لكه دا وائى علم نشته مگر هغه چه كومه قاعده ده. ما نشته مگر اوښ، عيش نشته مگر د آخرت عيش ، او مونږ دا تاويل دد ے دپاره اوكړو چه د ابوذر رضى الله عنه وغيره حديث داسے راغلے دے چه چا لَا إِلٰهَ إِلَّا الله اووے هغه به جنت ته ځى. اگر كۀ زنا يا غلاۓ كړے وى. او د عباده بن صامت رضى الله عنه په حديث كښې دى چه صحابو د رسول الله ﷺ سره په دے خبره باندے بيعت كړے وو چه نۀ به غلا كوو نۀ به زنا كوو او نه بل څۀ گناه. بيا رسول الله ﷺ اوفرمايل چه كوم يو كس په تاسو كښې خپل بيعت پوره كړو د هغے خو ثواب په الله باندے دے. او د چا نه چه په دے خطايانو كښې يوه خطا اوشى او بيا هغۀ ته په دنيا كښې سزا ملاو شى نو دغه د هغۀ كفاره ده. او چا ته چه په دنيا كښې سزا ملاو نۀ شى. نو په آخرت كښې د خدائے پاک اختيار دے كۀ غواړى نو معاف به ئے كړى كۀ اوغواړى نو عذاب به وركړى. نو دا دواړه حديثو نه سره د خپل نظائر د الله تعالى دد ے قول په مطابقدى إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ط يعنى الله تعالى نۀ بخښى شرک لره او د شرک نه علاوه چا لره ؟ چه اوغواړى د هغۀ گناه به اوبخښى. او د خاوندانو د حق په دے خبره باندے اجماع ده چه زناكار او غل او قاتل او دد ے نه علاوه خاوندان د كبيره گناهونو چه په شرک او كفر كښې مبتلا نۀ وى مومنان دى مگر ددوى ايمان ناقص دے. كۀ هغه چرے توبه كړى خو گناهونه به ئے معاف شى. او څوک چه گناه كوى كوى او مړ شى نو دا بيا د خدائے په اختيار كښې ده كۀ هغه اوغواړى او اوئے بخښى او كۀ هغه اوغواړى نو د گناه برابر عذاب به وركړى. او بيا به ئے جنت ته بوځى. مونږ لره دد ے حديث په تاويل باندے مجبور وى او كوم حديث چه دد ے مشابه راغلے دے بيا دا تاويل ظاهر دے د لغت نه لرے نۀ دے نۀ د استعمال نه اور كله چه دوه حديثونه داسے وراد شى چه په ظاهر په دے كښې اختلاف وى. نو دهغے تاويل كول ضرورى دى. او جمع كول واجب دى او بعضے علماؤ دد ے حديث معنى داسے بيان كړے ده چه كوم سړے زنا اوكړى او هغے لره حلال اوگڼړى يا غلا اوكړى او هغے لره حلاله اوگڼړى. نو هغه مومن نۀ دے. ولے چه شرعى حرامو لره حلال گڼړل په اتفاق د علماؤ كُفر دے. او حسن او ابوجعفر طبرى ويلى دى د مومن نۀ كيدو نه مراد دادے چه هغه د تعريف قابل نۀ شى پاتے كيږے چه مومن د الله دوست دۀ ته اوويلے شى. او د بد لقب مستحق كيږى. لكه زناكار يا شرابى يا غل يا لوټ كونكے. او د ابن عباس نه منقول دے چه دهغۀ د زړۀ نه د ايمان نور لاړ شى ختم شى. او په دے باب كښې يو مرفوع حديث هم راغلے دے. او مهلب وائى ددۀ بصيرت د الله په عبادت كښې لاړ شى. او زهرى وائى دا حديث او كوم حديثونه چه دد ے په مثل راغلى دى په هغو باندے ايمان راوړل پكار دى. او په كوم مطلب چه راغلى دى په هغے باندے روانيدل پكار دى. او د هغے په معنى كښې زيات غور كول نۀ دى پكار. ولے چه مونږ ته د هغے معنى معلومه نۀ ده او هغوى ويلى دى چه چلوئ دے حديثونو لره په داسے شان لكه څنگه چه وړاندے خلقو دے لره چلولى وى. او بعضو دد ے حا يث په معنى كښې نور اقوال بيان كړى دى چه هغه ظاهر نۀ دى بلكه بعض غلط دى. دد ے دپاره ما هغے لره نقل نۀ كړو اودا اقوال چه كوم بيا شول تول محتمل دى او صحيح هغه معنى ده كومه چه مونږ د تولو نه وړاندے بيان كړه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَسْرِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَالتَّوْبَةُ مَعْرُوضَةٌ بَعْدُ

د ابوهريره نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي زناكونكے چه كوم وخت زناكوي دغه وخت هغه مومن نۀ وي. او هر كله چه غلا كوي نو هغه مومن نۀ وي. او شرابي چه هر كله شراب څكي نو هغه مومن نۀ وي. او توبه دد ے نه پس قبليږي[1].

بَاب بَيَانِ خِصَالِ الْمُنَافِقِ

باب : د منافق د خصلتونو بيان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْ نِفَاقٍ حَتَّى يَدَعَهَا إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ وَإِنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ

د عبدالله ابن عمر نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه څلور خبرے وي نو هغه بالكل منافق دے. په چا كښ چه دَ دے څلورو نه يو خصلت وي. ون په هغهٔ كښ د نفاق يو خوی دے. تر دے پورے چه هغ پريږدي. يو خو دادے چه كله خبرے كوي نو دروغ وائي. دويم چه كله اقرار اوكړي نو د هغے خلف كوي. دريم چه كله وعده اوكړي نو هغه نۀ پورے كوي. څلورم چه كله جهګړه كوي نو په ناحقه سره چليږي او طوفان راولي[2].

امام بخاري په خپل صحيح كښ دد ے حديث معنے داسے بيان كړي ده چه هغه مومن كامل نۀ شي كيدے. او په دۀ كښ د ايمان نور نۀ شي پاتے كيدے.

[1] . نووي وائي چه علماؤ اجماع كړے ده چه توبه قبليږي د كومے پورے چه روح وتل شروع شوے نۀ وي. د زنكدن د آخري سلګو نه مخكښ وخته پورے. او د توبے درے اركان دي. يو خو دا چه د هغهٔ ګناه نه به بالكل ويزاره شي او په انكار سره به د هغے نه جدا شي. دويم په تير شوي ګناه باندے به شرمنده او ستومانه شي. چه افسوس ما دا ګناه ولے كوله. دريم د زرهٔ نه به دا مضبوطه اراده اوكړي چه آئنده ژوند كښ به چرته داسے او نۀ كرم. بيا كۀ د توبے دغه يو ګناه دۀ نه دوباره اوشوه نو توبه باطله نۀ ده. او څوک چه د يو ګناه نه توبه كړي او بيا بل قسم ګناه اوكړي نو ورومبۍ توبه ئے صحيح ده د خاوندانو د حق دا مذهب دے او معتزله ددارو مسئلونه خلاف كړے دے.

قاضي عياض ويلي دي چه بعضے علماؤ دا ويلي دي چه په دے حديث كښ اشاره ده د تولو ګناهونو طرفته او يره ئے وركړے ده د تولو ګناهونو نه. نو زنا اشاره ده هغه تولو ګناهونو طرفته كوم چه د خواهش نفساني نه كيږي. او د حرامو د خواهش نه كيږي. او شراب اشاره ده هغه تولو ګناهونو طرفته چه هغه د خدائے پاک د ياد نه د ذكر اذكار نه انسان لره منع كوي او د رب ذوالجلال د حقوقو نه دے غافله كوي. او لوټ اشاره ده هغه تولو ګناهونو طرفته چه په هغے كښ د الله په بنديګانو باندے ظلم كيږي. او د هغوے عزتي كيږي او دنيا په ناجائزه طريقو سره راغنديږي.

[2] او په بعضے روايتونو كښ دادے چه هر كله دۀ سره امانت كيښودے شي نو په هغے كښ خيانت كوي. نووي وائي. علماؤ دے حديث ته مشكل وئيلے دے په دے وجه سره چه كله دا خصلتونه په هغه مسلمان كښ پيدا شي چه هغه د ايمان په اركانو باند يقين

لري. او علماؤ په دے خبره باندے اجماع کړے ده. چه کوم سړے په زړۀ سره دا یقین لري او په ژبه سره د ایمان د ارکانو اقرار اوکړي. بیا چه دا څلور کارونه کوي نو هغه کافر نۀ دے. او نۀ منافق دے؟ چه هغه به همیشه په جهنم کښې پاتے شي. د څۀ دپاره چه د حضرت یوسف علی نَبِیِّنَا و علیه السلام په رونړو کښې دا څلور خصلتونه موجود وو نو علمائے محققینو دا ویلی دی چه دغه صحیح او مختار دے چه د خصلتونو د نفاق دی. او دحدیث مطلب دادے چه په کوم سړي کښې دا خصلتونه وي هغه په دے خصلتوون او اخلاقو کښې د منافقینو سره یو شان دے ولے چه نفاق دغه دے چه ظاهر د باطن خلاف وي. او نفاق ددغه خلقو په حق کښې اثر کوي. د چا سره چه هغه وعده کوي یا خبرے اترے کوي یا جنګ کوي یا امانت اخلي. او د اسلام په حق کښې دا نفاق اثر نۀ کوي. ولے چه په اسلام کښې ددۀ ظاهر د باطن په خلاف کښې نۀ دے.او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مقصود نۀ دے. چه ددے خصلتونو لرونکے انسان داسے منافق دے چه هغه کافر وي. او د هغۀ سزا همیشه په جهنم کښې اوسیدل وي.

او دا چه نے کوم فرمایلي دي چه هغه بالکل مناق وي ددے نه غرض دادے چه ددے خصلتونو په سبب سره د منافق ډیر مشابه کیږي. بعضے علماؤ ویلي دي چه دا حدیث د هغه سړي په باب کښې دے. چه د هغۀ نه داسے خصلتونه په عام طور سره واقع کیږي. لیکن د چا نه چه کله نا کله دا خبرے کیږي هغه په دے کښې داخل نۀ دیؒ. او د حدیث په معنٰی کښې دغه مختار دے. او امام ابوعیسیٰ ترمذي رحمه الله د علماؤ نه دا معنٰی نقل کړے ده چه د حدیث نه مراد د عمل نفاق دے نۀ د اعتقاد نفاق. او د علماء یو جماعت وائي ددے حدیث نه هغه منافق مراد دي چه د رسول اللهﷺ په زمانه کښې وو. او هغوي په دروغه خپل ایمان ښکاره کړے. او ددین په امانتونو کښې نے خیانت کړے وو. او د دینِ د مدد وعده نے کړے وه. او په جنګ جهګړه کښې به نے د ناحقو ملګرتیا کوله او دا قول دے د سعید بن جبیر او عطاء بن ابی رباحؒ رجوع کړے ددے طرفته امام حسن بصريؒ اګر چه وړاندے ددے نه په خلاف باندے وو. او دا منقول دے د ابنِ عباس او ابن عمرؓ نه. او هغوي دے لره د رسول اللهﷺ نه روایت کړے دے.

قاضي عیاضؒ وائي زمونږ ډیر امامان ددے قول په طرف تلي دي. او خطابي یو قول نقل کړے دے هغه دادے. چه مقصود ددے حدیث نه یرول دي مسلمانانو لره چه هغه ددے خصلتونو عادت وانخلي. ګني یره ده چه حقیقتًا به منافق شي او خطابي حکایت کړے دے چه دا حدیث وارد شوے د یو خاص منافق په باب کښې. او حضرتﷺ دا قاعده وه چه هغه به صفا نۀ فرمایل چه فلانے سړے منافق دے. بلکه اشاره به نے کوله لکه څۀ حال دے د خلقو چه داسے کوي.

مترجم «د اردو کتاب» وائي الله جل جلاله ماته الهام اوکړو چه په حدیث کښې څۀ اشکال نشته دے او نۀ په دے کښې د تاویل ضرورت شته. بیشکه په کوم سړي کښې چه دا څلور خبرے جمع وي او هغه همیشه دغه کوي. چه خبرو کولو په وخت باندے دروغ وائي. وعده کوي او ماتوي نے. د جنګ په وخت د ناحق مرسته کوي په امانت کښې خیانت کوي نو هغه پوخ منافق وي. ددے دپاره چه ددین په خبرو کښې هم هغه داسے کوي چه په ژبے سره اقرار کوي او په زړۀ کښې خلاف وي. ددین په احکامو کښې خیانت کوي خکه چه دا خو ددۀ قاعده شوے ده. دا نۀ چه کله کله ددۀ نه دا خبرے رااوخي او دے په هغے باندے شرمنده شي په دے صورت کښې إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وغیره د اتول قضا یا کلیه وي نۀ جزئیه. او ښکاره ده چه داسے سړے د چا چه همیشه دا قاعده وي مومن کیدے نۀ شي.

په تحفة الاخیار کښې دي چه د منافق دوه قسمونه دي. یو دا چه په زړۀ کښې نے انکار وي صرف په ژبه سره اقرار کوي. د حضرتﷺ په وخت کښې چه کوم منافق وو هغه په دے شان وو. دویمه دا چه په زړۀ کښې نے کفر نۀ دے بلکه اسلام دے. لیکن په سست اعتقاد او فسق او فجور کښې ګرفتار وي. په دے حدیث کښې ددویم قسم نفاق مراد دے. یعني د ایمان لائق خو دا وو چه سړے د بدو کارونو نه بچ وے. بیا هر کله چه دے په بدو کارونو کښې ګرفتار پاتے شو. نو د اسلام مزه په دۀ کښې څۀ ښکاره نۀ شوه په دے واسطه نے دۀ ته منافق اوفرمایلو انتهٰی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی د منافق درے نخښے دی هر کله چه خبرے کوی نو دروغ وائی. چه وعده اوکړی نو خلاف ئے کوی. او چه امانت ورته ورکړے شی نو خيانت په کښې کوی

بَاب بَيَانِ حَالِ إِيمَانِ مَنْ قَالَ لِأَخِيهِ الْمُسْلِمِ يَا كَافِرُ

باب: مسلمان رورته د كافر ويونكي د ايمان بيان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَفَّرَ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا

دعبدالله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دی هر كله چه يو سړی خپل رورته كافر اووے نو هغه كفر په دواړو كښې په يو باندے ضرور پريوځی[1]

[1] يعنی چه هغه چاته كافر اووے او هغه په حقيقت كښې كافر وی خو خبره په خائے شوه. او كه چرے هغه كافر نه وی نو دغه كفر په ويونكی باندے ألټه پريوتو.

ددے حديث نه دا معلومه شوه چه سړے د خپلے ژبے لره په كنترول كښې ساتی. هر يو ته د بے دليل يقينی نه كافر نه وائی. شايد چه دے پر ألټه كافر شی او د خدائے پاک په غضب كښې گرفتار شی. آو . په دومره ويلو څۀ پرواه نشته چه فلانے سړے د كافرو سره كار كوی كه چرے ددۀ عمل ددين خلاف وی او كه د چا كفر په دليل قطعی سره ثابت شوے وی اود ضرورياتو نه هغه انكار كوی نو دۀ ته د شوق نه كافر وايه ددے دپاره چه بل ددۀ په لاړ باندے لاړ نۀ شی. او په شريعت محمدی ﷺ كښې خلل پرے نۀ وځی . لكه چه په دے زمانه كښې ملحد فقير ظاهريې چه په شريعت محمدی ﷺ پوری خندا كوی بے شكه هغه كافر دی انتهی

د اردو كتاب مترجم وائی زمونږ په زمانه كښې يوه نوے فرقه په مسلمانانو كښې پيدا شوے ده چه هغے ته نيچری وائی. هغه لكه خپل خان ته د عقل تابع وائی خو د عقل سليم نه نۀ آوری. هغه ټول ددين د ضرورياتو نه لكه د فرښتو. د شيطان ، د وحی او د معجزاتو نه انكار كوی مونځ او روژے لره لغوه او بے كاره خيال كوی هغه بے شكه چه كافران دی او كافران هم داسے سخت چه كۀ چرے يو مسلمان ددوی په كفر كښې شک كوی نو زۀ يريږم چه چرته هغه پخپله هم كافران نۀ شی.

امام نووی فرمائی چه ددے حديث لره هم بعضے علماؤ د مشكلاتو نه خيال كړے دے. څكه چه ظاهری معنی مراد نۀ ده. ولے چه د خاوندانو د حق مذهب دادے. چه مسلمان په گناه كولو سره لكه قتل يا زنا كولو سره نه كافر كيږی. پس دغه شان خپل رور مسلمان ته په كافر ويلو سره نۀ كافر كيږی. د كومے پورے چه ددين اسلام د بطلان اعتقاد ئے نۀ وی.او هر كله چه دا معلومه شوه نو د حديث تاويل په خو صورتونو سره شوے دے يو دا چه مراد هغه سړے دے. چه هغه دے خبرے لره صحيح اوگنړی د كفر ألټه كيدو نه به دا مراد وی چه هغه ويونكے پخپله كافر كيږی ولے چه مسلمان ته كافر ويل صحيح گنړی. دويمه دا چه مراد د كفر ألټه كيدو نه به داوی چه ددۀ گناه به په عيب ويونكی باندے بار كړے شی. دريمه دا چه حديث په هغه خوارجو باندے محمول دے چه د مسلمانانو تكفير كوی او دے تاويل لره قاضی عياض د امام مالك نه نقل كړے دے. او دا ضعيف دے څكه چه د خاوندانو د اهل حق په نز خوارج هم د نورو خاوندانو د بدعت په شان كافر نۀ وی دا مذهب صحيح او مختار دے . څلورم تاويل دادے چه مراد د كفر ألټه

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرِئٍ قَالَ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا إِنْ كَانَ كَمَا قَالَ وَإِلَّا رَجَعَتْ عَلَيْهِ

د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه کوم سړے خپل رور ته د کافر په وینا آواز اوکړی. نو په دواړو کښې په یو باندے کفر لازمیږی. کۀ چرے هغه سړے چا ته چه آواز کوی کافر وی خو خیر (کفر به په هغه وی) کنی په آواز کونکی به پخپله واپس شی

بَاب مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ فَقَدْ كَفَرَ

باب: د خپل پلار نه سوا ځان ته د بل چا ځوے ویونکے کافر دے

عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَيْسَ مِنْ رَجُلٍ ادَّعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُهُ إِلَّا كَفَرَ وَمَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ وَمَنْ دَعَا رَجُلًا بِالْكُفْرِ أَوْ قَالَ عَدُوَّ اللهِ وَلَيْسَ كَذٰلِكَ إِلَّا عَادَ عَلَيْهِ

د ابو ذر غفاری (جندب بن جناده یا بریر) نه روایت دے هغوی د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. چه کوم سړے خپل ځان ته د چا بل چا ځوئ اووائی او بنۀ ورته پته وی چه دۀ ځوئ نه دے (یعنی قصداً د خپل پلار نه سوا بل ته پلار اووائی) هغه کافر شو. او کوم سړی چه د هغه څیز دعوه اوکړه چه هغه دده نۀ دے. هغه زمونږ نه نۀ دے او په جهنم کښې ځانله د اوسیدو ځائے جوړوی. او کوم سړے چه څوک د کافر په آواز کولو سره راغواړی. یا ورته د خدائے دشمن اووائی. او چا ته چه ئے ویلی وی هغه داسے نۀ وی (یعنی کافر نۀ وی) نو چا چه ورته په کفر آواز کړے دے په هغۀ باندے اُلټه کیږی[1]

کیدو نه داد ے چه انجام به ددۀ په کفر وی. خکه چه گناه گویا د کفر قاصد دے. او کوم سړے چه گناه ډیره کوی نو یره ده چه د گناهونو خیرے دۀ لره کفر ته بوځی. او تائید کړے دے ددے تاویل هغه روایت چه ابوعوانه سفرائنی په خپل کتاب مخرج علی صحیح مسلم کښې ویلے دے بیا کۀ چرے هغه سړے چا ته چه دۀ کافر ویلے دے. په حقیقت کښې کافر وی. نو خیر گنی په ویونکی باندے اُلټه شی او په یو روایت کښې دی چه هر کله ئے خپل رور ته کافر اوے نو په دواړو کښې په یو باندے کفر واجب شولو

پنځم تاویل داد ے چه مراد دراګرځیدو نه ددۀ د کفر راګرځیدل دی یعنی دۀ چه یو مسلمان ته کافر اووے او هغه کافر نۀ وو. نو دۀ پخپله د خپل ځان تکفیر اوکړو خکه چه ویونکے هم ددۀ په شان یو مسلمان دے. (انتهیٰ ما قال النووی)

[1] کوم سړے چه قصداً د خپل پلار نه سوا بل چا ته خپل پلار اووائی نو هغه کافر شو. نوویؒ وائی ددے تاویل په دوه طریقو دے یوه خو دا چه هغه دا حکم حلال او جائز او ګڼړی. دویمه دا چه د کفر نه مراد کفر شرعی نۀ دے چه د اسلام متضاد دے. بلکه د کفر نه مقصود کفران دے یعنی ناشکری او احسان فراموشی. خکه چه د پلار حق دۀ فراموش کړو او غیر لره ئے پلار جوړ کړو او ددے نظیر په دویم حدیث کښې دے حضرتﷺ فرمائیلی دی د ښځو په باره کښې چه هغه کفر کوی یعنی د خاوندانو ناشکری کوی انتهیٰ

کوم سړی چه د هغه څیز دعوه اوکړه چه هغه ددۀ نۀ دے هغه زمونږ نه نۀ دے او هغه خپل د اوسیدو ځائے په جهنم کښې جوړوی یعنی هغه پوهیږی چه دا شے خما نۀ دے خواه کۀ د بل چا وی یا نۀ وی خو په هغے باندے دعوه اوکړی چه خما دے نو هغه زمونږ نه نۀ

بَاب بَيَانِ حَالِ إِيمَانِ مَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَرْغَبُوا عَنْ آبَائِكُمْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيهِ فَهُوَ كُفْرٌ

عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ لَمَّا ادُّعِيَ زِيَادٌ لَقِيتُ أَبَا بَكْرَةَ فَقُلْتُ لَهُ مَا هَذَا الَّذِي صَنَعْتُمْ إِنِّي سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ سَمِعَ أُذُنَايَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ مَنْ ادَّعَى أَبًا فِي الْإِسْلَامِ غَيْرَ أَبِيهِ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيهِ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ وَأَنَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب : د خپل پلار نه د ګرځیدونکی او د نفرت کولو او قصداً بل لره د خپل پلار جوړولو د ایمان بیان

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. د خپلو پلارانو نه نفرت مهٔ کوئ (یعنی خپل پلارته پلار وایئ نورو لره پلار مهٔ جوړوَئ) کوم سړی چه د خپل پلار نه نفرت اوکړو هغه کافر شو (دد ے معنٰی پورته تیره شو ے ده)

د ابوعثمانؓ (نهدی عبدالرّحمٰن بن مل) نه روایت د ے هرکله چه د زیاد دعوه اوکړے شوه نو زهٔ دابوکره سره ملاؤ شوم (د زیاد د مور خوئ رور وو) او ما اوو ے تاسو دا څهٔ اوکړل (یعنی ستا رور) ما د سعد بن ابی وقاص نه اوریدلی هغه ویلی وو چه ما په خپلو غوږو د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی. چه فرمایلی ئے وو څوک چه په اسلام کښ راغے. او د خپل پلار نه سوا ئے بل چالره خپل پلار جوړ کړو نو جنت په دهٔ باند ے حرام د ے. ابوبکرهؓ وائی ما دا پخپله د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی[1].

د ے. یعنی زمونږ په لاز او طریقه باند ے نهٔ د ے ولے چه د اسلام دشان نه د دروغو دعوه کول ډیر لر ے دی. لکه پلار چه خوئ ته وائی چه تهٔ خما نه نهٔ ئے یعنی خما په وضع او چال چلن باند ے نهٔ ئے. او په جهنم کښ د اوسیدو د ځائے جوړولو نه غرض داد ے چه ددغه قصور سزا جهنم د ے. بیا کهٔ چر ے خدائے غواړی نو په خپل فضل به ئے معاف کړی او په توبه سره هم معاف کید ے شی. (نووی)

[1]: هرکله چه د زیاد دعوه اوکړے شوه. په اصل کښ زیاد د عبید ثقفی خوئ وو. او د حضرت علیؓ د دوستانو نه وو. بیا معاویهؓ دهٔ ته د خپل پلار ابوسفیان نطفه ویلے وه او زیاد قبوله کړےوه. او د معاویه رور جوړ شو.

او حضرتﷺ فرمایلی دی چا چه په حالت د اسلام کښ د خپل پلار نه سوا بل چا لره خپل پلار جوړ کړو. نو جنت په دهٔ باند ے حرام د ے. او هغه د ے خبر ے لره صحیح ګڼړی او اوئے کړی. یا دد ے فعل جزاء داده چه جنت به هغه وخت په دهٔ باند ے حرام وی. کله چه بنهٔ خلق جنت ته داخل شی بیا کهٔ خدائے غواړی نو دا بدله به دهٔ لره ورکړی او یا به ئے معاف کړی. (نووی)

په سراج الوهاج کښ دی چه خلقو په د ے خبره کښ لوئے سستی کړے ده. ترد ے پور ے چه بعضے خلق د نورو اولاد جوړ شو ے د ے. او هغه په د ے پوهه دی چه مونږ ددوی اولاد نهٔ یُو. او په بادشاهانو او امیرانو او نوابانو کښ د حرامو نسل ډیر خور شو ے د ے باوجود دد ے چه هغه خپلو خانتو ته د پلارانو په طرف نسبت ورکوی. حالانکه هغه د خپلو میاندو اولاد د ے او د پلارانو اولاد نهٔ د ے او بعضو د طمع په سبب د خپل خان نه سید جوړ کړے د ے. حالانکه هغه بنی فاطمهؓ نهٔ دی. او هغه په د ے خبره پوهیږی لیکن د دنیا د ښکلا او عزت په خیال سره دا طوفان جوړ وی. او اکثر په داسے هلاکت او تباهئ کښ امیران او مفلسان پریوځی. امیر خو د خپل شان

عَنْ سَعْدٍ وَأَبِي بَكْرَةَ كِلَاهُمَا يَقُولُ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيهِ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ

د سعد او ابوبکرة دواړو نه روایت دے چه مونږ په خپلو غوږونو د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی او په زړهٔ مو یاد کړی دی چه هغه فرمایلی وو. کوم سړے چه د خپل پلار نه سوا بل څوک خانله پلار جوړ کړی او دهٔ ته علم وی چه دا خما پلار نهٔ دے. نو په دهٔ باندے جنت حرام دے (یعنی دے به د جنت نه منع کولے شی)[1]

بَاب بَيَانِ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ

باب: مسلمان ته کنځل کول او بدے ویل گناه ده او د دهٔ سره جنگ کول کفر دے

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ قَالَ زُبَيْدٌ فَقُلْتُ لِأَبِي وَائِلٍ أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ عَبْدِ اللهِ يَرْوِيهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ شُعْبَةَ قَوْلُ زُبَيْدٍ لِأَبِي وَائِلٍ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی. مسلمان ته کنځل کول یا د هغهٔ عیب بیانول فسق دے (یعنی گناه ده او داسے کونکے فاسق کیږی) او د هغهٔ سره جنگ کفر دے. زبید وائی ما د ابو وایل نه تپوس اوکړو تا پخپله عبد الله بن مسعود لره د رسول الله ﷺ نه روایت اوریدلی دی؟ هغوی اووے آو. او نشته دے د شعبه په حدیث کښې تپوس کول د زبید د ابووائل نه[2]

د سوا کولو دپاره او مفلس د خپل کسب او د گټے کولو دپاره. او دا نهٔ دے مگر د شیطان په تسلط سره چه هغه د دوی عقلونه ختم کړی دی او گمراه کړی ئے دی. خدائے د ورته د نیکے لارے هدایت اوکړی.

[1]: مراد دا دے چه خپل نسبی پلار چا ته اووائی. او خپل خان ته د هغهٔ نطفے نه اووائی. او د شفقت په لاز سره بل ته پلار ویلے شی.

[2]: نووی وائی مسلمانانو ته ناحق بد ویل په اجماع امت سره حرام دی. او دا دے مرتکب فاسق دے. لیکن د مسلمان سره جنگ کول کفر نهٔ دے. د خاوندانو د حق په نز. لکه څنگه چه مونږه وړاندے څو ځایه بیان کړی دی. نو د حدیث تاویل په څو قسمه دے یو دا دے چه حلال ئے اوگنړی او جنگیږی. دویم دا چه د کفر نه مراد ناشکری ده نهٔ کفر شرعی. دریم دا چه انجام د دے کفر دے. څلورم دا چه دا د کافرانو فعل دے.

په سراج الوهاج کښې دی چه حدیث دلیل دے د روافضو د فسق او کوم چه د دوی په مثل خاوندان د شرک او بدعت او گمراه کونکو نه دی. چه هغه صحابو او علمائے سلف او اهل حق ته بد وائی. او دلیل دے د هغه خلقو د کفر چه هغه د مسلمانانو سره جنگ کوی لکه خوارج او نواصب او شیعه او غیر مقلدین د خپل خپل مذهب په حمایت کښې.

(د اردو کتاب) مترجم وائی په دے حدیث باندے مسلمانانو لره التفات کول پکار دی. او په وړو وړو شان خبرو چه هغه د مسلمانانو سره جنگ ته تیاریږی. نو دے ته کتل پکار دی چه دا جنگ د دوی درجه کوم ځائے ته رسوی. د یو امر مستحب یا سنت دپاره جنگیدل او خپل خان کافر کول د انتها درجے جهل او غفلت دے الله د دے نه مونږ بچ کړی.

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ اسْتَنْصِتِ النَّاسَ ثُمَّ قَالَ لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ

د جرير بن عبد الله بجلی رض نه روايت دے چه رسول الله ﷺ مانه اوفرمايل په حجة الوداع کښې (يعني په آخری حج کښې د وداع حج دے ته ځکه وائی چه په دے حج نبی کريم ﷺ خلق رخصت کړل او ددين احکام ئے ورته اوښودل او په دويم کال د هغهٔ وفات شوے وو) چه چُپ کړه خلقو لره (ددے دپاره چه هغه دا ضروری خبره واؤری) او بيائے اوفرمايل خما ددے موقف نه پس يا د وفات نه پس د يو بل ځټونه او نهٔ وهئ او کافران جوړ نهٔ شی [1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَيْحَكُمْ أَوْ قَالَ وَيْلَكُمْ لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ

د عبد الله بن عمر رض نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقع وَيْحَكُمْ يَا وَيْلَكُمْ فرمائيلی وو. خماق نه پس کافران کيږئ مهٔ. چه اووځی بعضے ستاسو نه ځټونه د بعضے نورو (يعني د يو بل ځټونه اُووهئ) [2]

بَابُ إِطْلَاقِ اسْمِ الْكُفْرِ عَلَى الطَّعْنِ | باب : په نسب کښې طعن کونکے او په مړی باندے په

---

[1] يعني په اتفاق سره اوسيدل او تول په يو ځائے د کافرو سره جنګ کول ددے دپاره چه په اسلام کښې ترقی اوشی او څوک چه بے تفی غورخوی په خپلو کښې او يو بل وژنی نو هغه به پخپله کافران کيږی

امام نووی وائی ددے حديث په تفسير کښې اووهٔ اقوال دی. يو دا چه مراد هغه خلق دی چه هغه په خپلو کښې جنګيدل صحيح ګڼړی په ناحقه سره نو هغه بے شکه او بے شبهے کافران دی. دويمه دا چه مراد د کفر نه د اسلام حديث ناشکری ده. دريمه دا چه هغه کفر ته نږدے کيږی او دا فعل دوی لره کفر ته نږدے کوی. څلورم دا فعل د کافرانو په شان دے. پنځم دا چه مراد کفر دے حقيقتاً او غرض د هغوی صلی الله عليه وسلم دا دے چه خما نه پس کافر نهٔ شئ او په اسلام باندے قائم او سيږئ او هغه چه کوم حکايت کړے خطابی وغيره چه مراد د کفار نه سلاح پوش دی يعني وسله بند کړئ او د يو بل ځټونه مهٔ وهئ او کافر وسله اغُستونکو ته هم وائی. اوم دا چه يو بل ته کافر مهٔ وائی چه بيا د کفر په بهانه سره ځټونه وهئ او په ټولو کښې ظاهر څلورم تاويل دے او قاضی عياض رح دا اختيار کړے دے

[2] وَيْحَكُمْ يَا وَيْلَكُمْ قاضی عياض رح وائی دا دواړه کلمے د عربو خلق د تعجّب او د رد په وخت کښې استعمالوی سيبويه رح وائی "ويل" ددے دپاره وائی چه په تباهئ کښې پريوځی. او ويح د رحم دپاره . او منقول ده ددهٔ نه چه ويح زجر دے د هغه سړی دپاره چه هغه هلاکت ته نږدے شوے دے ددے کلمو نه بددعا مقصود نهٔ ده. فقط رحم او حيرانتيا مقصود ده او د حضرت عمر نه روايت دے چه ويح د رحمت کلمه ده او هروی رح وائی چه ويح د هغه بنده دپاره ويلے شی چه هغه په افت کښې پريوزی او د هغے سزاوار نهٔ وی او ويل د هغه چا دپاره ويلے شی چه هغه سزاوار وی نو د ويح نه رحم مقصود دے او د ويل نه نهٔ دے نووی

فِي النَّسَبِ وَالنِّيَاحَةِ

چغو چغو ژړا کونکي باندے د کفر اطلاق

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اثْنَتَانِ فِي النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي په خلقو کښې دوه خبرے موجود دي او هغه د کفر دي. يو په نسب کښې طعنه کول دويم په مړي باندے په چغو چغو ژړل د هغۀ اوصاف بيانول او چغے وهل ژاړي دے ته نوحه وائي[1]

بَاب تَسْمِيَةِ الْعَبْدِ الْآبِقِ كَافِرًا

باب :د خپل مولي دخوانه د تختيدلي غلام ته د کافر ويلو شان

عَنْ مَنْصُورِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ جَرِيرٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ مِنْ مَوَالِيهِ فَقَدْ كَفَرَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْهِمْ قَالَ مَنْصُورٌ قَدْ وَاللهِ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنِّي أَكْرَهُ أَنْ يُرْوَى عَنِّي هَهُنَا بِالْبَصْرَةِ

د منصور بن عبد الرّحمٰن (واشل عدابي بصري دۀ ته احمد بن حنبل او يحيٰي بن معين ثقه ويلي دي. او ابو حاتم ورته ضعيف ويلي دي) د شعبي نه اوريدلي دي او هغوی د جرير نه اوريدلي دي چه ويلي ئے وو چه کوم غلام د خپل مالك نه اوتختي هغه کافر شو (دلته د کفر نه مراد ناشکري ده ولے چه دۀ د خپل مالک حق ادا نۀ کړو) د کومے پورے چه واپس هغۀ له را نۀ شي. منصور اووے قسم په خدائے چه دا حديث خو مرفوعًا د رسول الله ﷺ نه مروي دے (خو ما دلته مرفوعًا بيان نۀ کړو د

[1] په نسب کښې طن کول يعني د چا په نسب باندے داغ لګول چه هغه شريف نۀ دی. يا د دوی خاندان بد دے يا دا وينځے نه پيدا دی. دا تول د کافرانو تقليد دے. ولے چه د عربو کافرانو به د جاهليت په زمانه په خپل حسب او نسب باندے ډيرلوئے فخر کولو او د نورو نسب ته به ئے بد رد ويل مسلمانانو لره دا خبره هرګز سزاوار نۀ ده خکه چه تول د آدم عليه السلام اولاد دے او فضيلت او بزرگي په علم او اعمال صالحه سره دے او په قيامت کښې به هر سړی ته د هغۀ عمل په کار راځي ذات او نسب به څۀ په کار نۀ راځي لکه چه په دويم حديث کښې صفا واضحه ده. په مړي باندے په چغو چغو او د هغۀ د اوصافو د بيانولو سره ژړل چه ورته نوحه وائي نووي وائي دوارو د کفر کيدو نه مراد دادے چه هغه د کافرانو وفعل دے اود جاهليت عادتونه دي يا هغه د کفر طرفته ادا کونکي وی يا مراد د کفران نعمت او هغه کارونو لره حلال يا نا شکري ګڼړل او کول خو بلاشبهه کفر دے او د دے حديث نه د نوحے او په نسب کښې د طعنے کولو لوئے بدوالے رااُووتو. او د هر يو په باب کښې مشهور احاديث راغلي دي.

جریر قول م اوبنودو) لیکن ما ته بد معلومیږی چه دا حدیث خمانه بیان کړے شی په دے خائے په بصره کښ[1].

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ

د جریر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم غلام چه اوتختی ددهٔ نه ذمه کوزه شوه (یعنی د اسلام پناه ختمه شوه. یا وراندے چه کوم ددهٔ رعایت شوے وو هغه به نهٔ وی. او مالک ته به اختیار ورکولے شی ددهٔ د وهلو یا د قید کولو)

عَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ

د جریر نه روایت دے چه رسول الله فرمایلی دی چه هر کله غلام اوتختی نو د هغهٔ مونځ نهٔ قبلیږی[2].

بَاب بَيَانِ كُفْرِ مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِالنَّوْءِ

باب: د هغے سړی کافر کیدل چه هغه اووائی چه باران دستوروگردش نه کیږی

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ فِي إِثْرِ السَّمَاءِ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ

د زید بن خالد جهنی ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ زمونږ سره په حُدیبیه کښ (چه دا د یو مقام نوم دے مکے ته نږدے) د سحر مونځ اوکړلو او د شپے باران وریدلے وو. هر کله چه هغه د مانځهٔ نه فارغ شو نو خلقو طرفته ئے مخ کړو او اوئے فرمایل تاسو ته پته ده چه ستاسو پروردګار څهٔ فرمائی؟ هغوی اووے الله ؓ او د هغهٔ

---

[1] : دا منصور خاص خلقو ته اووے. او مرفوعًا روایت کول هغوی دد ے وجے نه بد ګنړل چه په دغه زمانه کښ په بصره کښ د خوارجو زور وو. چه هغوی به کبیره ګناه کونکی ته کافر ویلو. او همیشه دپاره به ئے د جهنم مستحق ګنړلو. نو منصور ته یره شوه چه چرته خوارج دے حدیث لره سند اونهٔ نیسی. او پورته مونږ د خوارجو مذهب او د هغوی بطلان بیان کړے دے. نووی

[2] : امام ماذری ؒ دد ے تاویل کړے دے. او قاضی عیاض ؒ ددهٔ تابعداری کړی ده او هغه داده چه حدیث محمول دے په هغه غلام باندے چه هغه تختیدو لره حلال اوګنړی. د هغهٔ مونځ قبول نهٔ دے. او د نهٔ قبلیدو نه دا نهٔ لازمیږی چه مونځ ئے صحیح نهٔ دے. ولے چه نهٔ قبلیدل د سقوط ثواب باعث دی. او نهٔ صحیح کیدل د وجوب قضاء باعث دی. نووی ؒ وائی دا کلام بیشکه بنکلے دے او زمونږ جمهور علماؤ ویلی دی چه په غصب اخستی شوی کور کښ مونځ صحیح دے مګر ثواب ئے نهٔ وی. او په فتاوی ابی نصر ؒ کښ ما لیدلی دی. د عراق د اصحابو دا قول محفوظ دے. چه په مغصوب کور کښ مونځ صحیح دے. فرض د ذمے نه ساقط شول خو ثواب ئے نشته دے. ابو منصور وائی چه د خراسان علماؤ په دے کښ اختلاف کړے دے. بعضے وائی چه مونځ په کښ هم نهٔ صحیح کیږی. انتهٰی

قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ فَذٰلِكَ مُؤْمِنٌ بِي كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذٰلِكَ كَافِرٌ بِي مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ

رسول ﷺ بنهٔ پوهه دی. هغوی اووے الله پاک فرمائی چه څما په بندیګانو کښې د بعضو سبا په ایمان شو. او د بعضو په کفر باندے. نو چا چه اووے چه اُوبهٔ راپریوتے د الله په فضل او رحمت سره هغوی ایمان راوړو په ما باندے او کافر شو په ستورو باندے او چا چه اووے اُوبه د ستورو په ګردش باندے راپریوتے هغه په ما باندے کافر شو او ایمان ئے راوړو په ستورو باندے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَمْ تَرَوْا إِلَى مَا قَالَ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ مَا أَنْعَمْتُ عَلَى عِبَادِي مِنْ نِعْمَةٍ إِلَّا أَصْبَحَ فَرِيقٌ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. تاسو نهٔ ګورئ چه ستاسو رب فرمایلی دی چه ما څهٔ نعمت نهٔ دے ورکړے خپلو بندیګانو لره مګر یوے فرقے د هغوی نه سحر ته

[1] نوویؒ وائی اختلاف کړے دے علماؤ د هغه سړی په باب کښې چه هغه وائی اوبهٔ راپریوتے (باران اُوشو) د ستورو په حرکت سره. بعضو ویلی دی هغه په حقیقت کښې کافر شو او د اسلام نه بالکل بَهر شو. او دا په هغه صورت کښې دے چه ویونکے ستورو لره فاعل او مؤثر ګنړی د اوبو د ورولو دپاره لکه څنګه چه د جاهلیت د خلقو اعتقاد وو. او کوم سړے چه داسے اعتقاد لری د هغهٔ په کفر کښې څهٔ شک نشته دے. او جمهور علماء ددے قول طرفته تلی دی. ددوی نه دی امام شافعیؒ او دا ظاهره ده د حدیث نه او دغه خلقو ویلی دی چه کهٔ څوک اووائی چه د ستورو په ګردش سره باران اوشو لیکن د هغهٔ اعتقاد دا وی چه د اوبو ورولو والا الله دے. او د هغهٔ په رحمت سره اُوبه راوریږی. او ستوری کهٔ چرے څهٔ وی نو دا د اُوبو د راوریدو یوه نخښه ده. نو هغه کافر کیږی نه خو داسے ویل مکروه تنزیهی دی خو ګناه نشته دے په دے کښې. او د مکروه والی سبب ئے دادے چه دا کلمه مُشابه دهد کافرانو د کلمے. او شعار دے د جاهلیت. او بعضے وائی د کفر نه مراد ناشکری ده. او مطلب ده د چه دهٔ د خدائے پاک ناشکری اوکړه. لیکن دا په داسے صورت کښې دے چه هر کله ویونکے ستورو لره فاعل او مؤثر نهٔ ګنړی. او مؤید دے د هغه تاویل چه په دویم روایت کښې دے. چه سحر کړو بعضو په شکر باندے او بعضو په کفر باندے. او په یو روایت کښې دی چه ماڅهٔ نعمت خپلو بندیګانو ته نهٔ دے ورکړے خو بعضے ددوی نه سحر له کافر شول. او په یو روایت کښې دی چه دآسمان نه څهٔ برکت الله نهٔ دے رالیږلے خو بعضے کافر شول د هغے سره. نو مراد ددے نه کُفرانِ نعمت خو دے او د نوء لفظ چه په حدیث کښې راغلے دے. په دے کښې لویے خبرے اترے دی. شیخ ابو عمرو بن الصلاحؒ ددے خلاصه بیان کړے ده. هغه وائی نوء ستوری ته نهٔ وائی بلکه د نوء معنی ده ډوبیدل یا راوتل. او اصل داده چه اتهٔ ویشت ستوری داسے دی چه د هغے راختل په تول کال کښې معلوم او معروف دی. او دغه اتهٔ ویشت منزلونه دی د قمر یعنی د سپوږمۍ. هر دیارلس شپے پس یو ستورے ددوی نه د مغرب طرفته ډوبیږی. او دویم مقابل ددے دغه وخت د مشرق نه راخیژی. نو د جاهلیت خلقو دا اعتقاد لرلو چه کله به اُوبه پریوتے نو د هغه ستوری طرفته به ئے نسبت ورکولو چه کوم به ډوبیدو. او اصمعیؒ وائی چه د دغه ستوری په طرف کوم چه د مشرق نه راخیژی. ابو عبید وائی د نوء نه ډوبیدل په دغه مقام باندے مراد دی بیا کله نوء پخپله ستوری ته ویلے شی. زجاج ویلی دی کوم ستوری چه مغرب ته پریوځی هغوی ته نوء وائی او کوم چه د مشرق د طرفنه راخیژی هغوی ته بارح وائی. انتهٰی ما قال النووی

مِنۡهُمۡ بِهَا كَافِرِيۡنَ يَقُوۡلُوۡنَ الۡكَوَاكِبُ وَبِالۡكَوَاكِبِ | ددے نه انکار اوکړو او اوئے ویل ستوری ستوری[1]

---

[1] یعني د ستورو چکر لره چه ددے نعمت وجه او ددے تر اوسه پورے په دنیا کښې داسے ضعیف الاعتقاد او ناپوهه خلق موجود دي چه هغه د هر سړی ښه والي بدوالي د هغه د ستوری طرفته منسوب کوی او سپوږمۍ او نمر او اووه ستورو لره د خاص خاص انسان او سرو داهر فائده مند او مضر یعني ضرر رسونکی خیال کوی. په دے کښې شک نشته چه خدائے پاک دے لویو لویو جسمونو لره بیکاره نه دی پیدا کړی او د سپوږمۍ او نمر د تولو زرګونو فاندو نه یوه فائده دا هم ده چه په دے سره د نباتاتو او حیواناتو پرورش کیږي خو دا تاثیر په د انکار او د اوبو په شان نمر او سپوږمۍ لره هم کنړل پکا ردی. چه نمر او سپوږمۍ د انسان په شان څۀ عقل خو نۀ لری نۀ روح لری چه بعضو ته نفع رسوی او بعضو ته نقصان اوکوم اجرام علویه لره چه طاقت ورا و صاحب قوت خیال کوے نو زمکے بے چارے څۀ قصور کړے دے چه هغه چا ته نفع او ضرر نۀ رسوی بناء برهینت جدیده په زمکه او سیارو کښې څۀ امتیاز نشته دے اصل داده چه په تیره شوے زمانه کښې هر کله چه الات او دوربینونه داسے نۀوو نو خلقو صرف د سترګو نه کا راخستے وو او د کوم خائے پورے چه د هغو سترګو کار کاوو هغه دا وو چه هغوی اووه ستوری سیارے ویستلے او باقي ثوابت او سپوږمۍ او نمر لره ئے هم یوه سیاره خیال کړو په دے شان پنځۀ سیاری یعني عطارد او زهره، مشتری، مریخ او زحل. او چونکه دا اجسام زیات لوړ او اوچت او چمکدار په نظر راتلل او ددوی دوه شیے همیشه په مختلفو منازلو کښې د زمکے نه چا پیره اوموندلے شوے خکه د عوامو څۀ خو ډیر د خاصو خلقو د فلاسفو او حاکمانو خلقو هم دا خیال تیر شو چه دا اجسام عقل او نفس لری. هغوی د زمکے مختلف واقعات او حادثات چه د هغے اسباب پټ وو د هغه سیارو طرفته منسوب کړو. بیا دا خیال زیاتیدو زیاتیدو تردے پورے زیات شو چه صابینو او کلدانی او مصری خلقو د سپوږمۍ او نمر او د سیارو عبادت شروع کړو. او په شرک کښې ګرفتار شو الله تعالی چه هر کله د اسلام رنړا په دنیا کښې خوره کړه او دا اعتقاد ختمول شروع شو او حضررت صفا اوفرمایل چه منجمین دروغجن ددے نه ورستو هر کله چه د هینت تحقیقات اوشول او لوئے لوئے الات او دوربینونه ایجاد شول بیا خو ددوی د اعتقاد زایله اوشلیده. ولے چه سوا ددی سیارو نه نورے څۀ سیارے په نظام شمسی کښې معلومے شوے لکه سیریز. پالس جونو. وسټا او یورانس او افتاب مرکز علام جوړ شو او زمکه هم ددے سیارو په شان یوه سیاره اوموندے شوه او سپوږمۍ د زمکے تابع اوموندے شوه بیا ټوله کارخانه کومه چه د زروکالو نه نجومیانو قائمه کړے وه اُلټه پُلټه او چوپټ شوه او ناممکنه ده چه د مشتری مریخ او زحل وغیره تاثیر خو په خاصو خاصو خلقو باندے کیدو او د سیریز پاکس او یورانس وغیره نه شو کیدے حالانکه هغه هم ددوی پشان سیارے دی بیا محال ده چه زمکه په کومه باندے چه موږ ټول اوسیږو او هغه هم یو سیاره ده ددے تاثیر په موږ نه وی او ددے سیارو باوصف دومره لرے زموږ د پاسه قدرت او طاقت وی د لرے د ډهوز مزے زمکه غریبه د کور چرګ دے ددے څۀ قدر منزلت نشته دے دے لره کنستلے شی وهلے شی او په دے باندے ګرځئ په خپو سره غوبل کوئ بیا د لرے نه ستوری اووینی چه هغه پرقیږی نو مقدس او پاکیزه ئے ګنړی حالانکه کۀ چرے دے سیارو ته لاړ شئ نو صفا به معلومه شی چه بعضے به دوی کښې د زمکے نه هم زیاتے ګنده او غریزے دی په خپله په سپوږمۍ کښې په دوربین سره دومره لوئے لوئے غارونه معلومیږی چه په سوونو زرګنو میل د هغے ژور والے دی معاذالله چه هغه به خومره یرونکے او تیاره وی او د لرے نه د سپوږمۍ هغه حُسن دے چه د معشوقو مخ لره ددے سره تشبیهه ورکولے شی دا خیال ... دے د انسان چه بغیر د غور او فکر کولو نه او بغیر خپل فکر لره د مقررشوے میزان نه چانړ کړے شوے یو خیال مضبوطه وی او د همے تابعدار ئیږی حیر دا ستوری خو لوئے لوئے ستوری دی او زلیدونکی او روښانه دی د خدائے لعنت په هغه خلقو باندے چه هغه د ګټو او دریابونو او غرونو او اونو او خناورو عبادت کوی او هغوی لره خپل معبود او مالک او متصرف نۀ ګنړی بلکه په خپلو لاسونو سره یو بے روحه ټکره د خاورے یا د تنبے یا د سپینو زرو یا د سرو زرو نه جوړه کړی او د هغے عبادت کوی خدائے لره د خپل

خواهش مطابق جوړ وي. اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰاهُ او بعضے چه ددوی په نسبت لږ شان هوښيار دی هغه د سرو او د پيريانو عبادت کوی او د بنده غونډے کمزورے او بے طاقته مخلوق لره معاذالله خدائے جوړ وی بنده لره د خدائے خوی يا محبوب گرخوی او هغهٔ لره مقدس د عبادت لائق گنړی حالانکه هغه بنده يعنی هغه سړے چه هر کله ژوندے وو نو ددنيا په څهٔ خبره کښ د نورو خلقو نه ممتاز نهٔ وو خوړونکے هغه وو څکونکے هغه وو ، بول براس به نے کولے. څنگه چه نور سړی مړهٔ شو هغه هم مړ شو يا مړهٔ کيدونکے دی بيا د هغهٔ د خدائے سره څهٔ تعلق دے. هغه زمونږ پشان د خدائے پاک يو مخلوق دے. او اصل داده چه دغه خلقو تر اوسه پورے خپل رښتونے خدائے نهٔ دے پيژندلے او د هغهٔ په عظمت او لوئی او پاکئ تر اوسه پورے سوچ نهٔ دے کړے. گنی دداسے ناپاکے خبری کولو سره به دوی ته شرم ورتلو او هغوی به د رښتونی خدائے په دربار کښ داسے بے ادبی نهٔ کوله. د خداوند کريم لوئی د هغهٔ په مخلوق کښ د سوچ کولو سره معلوميږی زمکه د هغهٔ ادنی مخلوق دے. چه دهغے محيط څليريشت زره ميله او قُطر ئے تقريبًا اتهٔ زره ميله دے بيا مشتری چه زمونږ په نظام شمسی کښ يوه سياره ده هغه زمونږ ددے زمکے نه زر حصے لويه ده او د هغے قُطر نهَه لکه ميله دے په دے شان زحل زمکے نه تقريبًا شپږ سوه درجے لوئے دے. د هغے قطر يو کم اتيازره ميله دے. دغه شان نورے سيارے څهٔ د زمکے نه لوئے څهٔ وړے او څهٔ د زمکے برابر دی زمونږ زمکے ته يوه سپوږمئ د رڼا دپاره ورکړے شوے ده. هغه هم دومره قدرے لويه ده چه دهغے قُطر د دوه ميله نه زيات دے او مشتری لره څلور سپوږمئ او زحل لره اوهٔ سپوږمئ ، يورانس لره شپږ سپوږمئ په وجه ددے چه د نمر نه ډير زيات لرے دی ورکړے شوے دی بيا نمر چه ددے تولو سيارو مرکز دے ددے لوئے والے دومره قدرے دے چه يواځے زمونږ د زمکے نه ديارلس لکه حصے لوئے دے او د زمکے نه نهه کروړه پنځهٔ ويشت لکه ميله ورستو پروت دے کهٔ د نمر جسامت لره برابر د يو منگی اوگنړلے شی نو د زمکے جسامت به د هغے په حقله د متر ددانے برابر وی کهٔ چرے د نمر د خوانه د توپ گوله پريخودے شی نو د زمکے پورے به هغه گوله په نولس کاله کښ رااُونهٔ رسی. اوس دغه تولے سيارے ددغه نمر نه چاپيره چکر لگوی او د هغهٔ نه رڼا او گرمی حاصلوی. د زمکے حرکت دومره قدرے تيز دے چه يوسل شل چنده تيز د توپ د گولے نه زيات چکر لگوی او اتهٔ پنځوس زره ميله په يوه گنټه کښ وهی دغه شان نور ستوری هم په خپل خپل مدار باندے په ډيره تيزئ او جلتئ سره تاوېږی بيا نمر ددے تولو لويو لويو جسمونو لره اخلی معلومه نهٔ ده چه د چا نه چاپيره تاوېږی اوس سوا ددے سيارو نه پخپله زمونږ په نظام کښ لوئے لوئے دُم دار ستوری دی چه د هغو لوئے والے په خيال کولو سره د خدائے پاک يره په زړهٔ کښ راځی. د يو دُم دار ستوری لکئ د لس کروړه ميلو نه هم زيات اوږد حساب کړے شوے دهٔ. او دا دُم دار ستوری داسے تيزتلونکے دی چه ددے تيزتلل د خيال نه بهر دی دا د نمر خواله راځی او چکر خوری او بيا په خپلو کړو لارو کښ په جلتئ سره ځی په کال ۱۸۴۳ء کښ يو دُم دار ستورے داسے زمکے ته نژدے راغلے وو چه د سپوږمئ او د زمکے په مينځ کښ شوے وو. او سپوږمئ ئے د نظر نه پټه کړے وه. هغه دُم دار ستورے کوم چه په کال ۱۷۷۰ء کښ ښکاره شوے وو زمکے ته دومره نژدے راغلے وو چه د زمکے قوت جاذبه ددے په چليدو باندے اثر کړے وو کهٔ چرے هغه دُم دار ستوری زمونږ ددے زمکے سره ټکر خوړلے وے او صدمه رسيدلے وے نو زمکه به سره د سمندرونو او غرونو د اوبو د يو څاڅکی په شان يا د گټئ د يوے ټکړے په شان په څهٔ زبردست او لوئے ستوری باندے پرے وتے وه. ليکن هغه په خپل تيزتلو سره د مشتری د سپوږمئ په مينځ کښ شو اووتهٔ. کهٔ چرے ددغه سپوږمئ چه هغه اوس زياتے تيز تلونکے دی چا لره د هغه دم دار تيز تلونکو سره ټکر راتلے نو يو يا دواړه به ماتيدے. خو د خدائے نظر په خپل تول مخلوقات باندے دے او هغه د تولو ساتونکے او حفاظت کوی اوس د اتول زمونږ نظام شمسی سره د خپلو تولو سيارو او دم دار ستورو وغيره د خدائے د هغه مصنوعاتو په مقابله کښ کوم چه په اسمان په کثرت سره معلوميږی بے قدره دی. څکه چه دا تول ستوری په سوونو زرگونو په اسمان باندے پرقيدونکی په نظر راځی. هر يو ددوی نه په منزله د يو نمر دے. او په دے طور باندے هر يو ته ددوی نه سيارے ورکړے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَنْزَلَ اللهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ بَرَكَةٍ إِلَّا أَصْبَحَ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ بِهَا كَافِرِينَ يُنْزِلُ اللهُ الْغَيْثَ فَيَقُولُونَ الْكَوْكَبُ كَذَا وَكَذَا وَفِي حَدِيثِ الْمُرَادِيِّ بِكَوْكَبِ كَذَا وَكَذَا

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نهٔ وو رالیږلے الله پاک د آسمان نه څهٔ برکت مګر سحر له یوے فرقے د هغے نه انکار اوکړو. الله پاک اوبهٔ ورَوی نو دا خلق وائی چه فلانے فلانے ستورے رااوختو یا پریوتو د هغے په وجه سره باران اووریدو. او د مرادی په حدیث کښې دی چه د فلانی فلانی ستوری په سبب سره (باران اُوشو)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مُطِرَ النَّاسُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْبَحَ مِنَ النَّاسِ شَاكِرٌ وَمِنْهُمْ كَافِرٌ قَالُوا هٰذِهِ رَحْمَةُ اللهِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَقَدْ صَدَقَ نَوْءُ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ حَتّٰى بَلَغَ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ

د ابن عباس نه روایت دے. باران اوشو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نو هغه اوفرمایل چه سحر کړو بعضو په شکر باندے او بعضو په کفر باندے. نو چا چه شکر باندے اوکړو هغوی اووے دا د الله رحمت دے. او چا چه کفر اوکړو هغوی اووے چه فلانے نوء فلانے نوء رښتونے شولو. بیا دا آیت نازل شو. فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ د آخره پورے[1].

شوی دی پس د خدائے څهٔ عجیبه عجیبه قدرت دے. د شپے آسمان طرفته اوګوری او غور اوکړی چه څومره سیارے په دوربین سره په نظر راځی. هغه اتهٔ کروړه دی. ددوی نه یو یو ددغه نمر په شان روښانه دے. او په خیال کښې دا راځی چه یو یو د دوی ددغه نمر په موافق په خپلو خپلو کښې سیارے لری. او دوی له ګرمی او رڼړا ورکوی. خکه د شهنشاه بے پرواه قادر مطلق او د رښتونی خداوند قدرت د انسان پوهه او ادراک او قیاس له پریشانه کوی. چه هغه هر وخت او هر ساعت د زمکے او دم دار ستورو او سیارو او په لاکونو کروړونو نمرونه او سیارو حفاظت کوی. او په خپل بے انتها قدرت او اختیار سره دے بے شماره عالمونو له په خپلو لارو باندے چلوی. او د یو بل سره نے جنګ او ټکر خوړلو ته نهٔ ورکوی. بیا د هغو په ځائے ولاړ ستورو د زمکے نه دومره قدرے لرے دے. چه په پوهه کښې نهٔ راځی. یو سړے ددے د لرے والی حساب نهٔ شی کولے. په اویا لکه کاله کښې چه څومره لرے د توپ ګوله لاړه شی. دا ترَدے ستورے ددے نه هم زیات لرے دے. بیا څوک لتون کولے او د الله پاک قدرت معلومه ولے شی. او د الله کمالاتو له موندلے شی اوس دداسے خداوند عظیم الشان د جلال او بزرګئ په مخکښې د انسان څهٔ مرتبه ده. چه هغه ددهٔ د یو ادنی مخلوق یعنی د زمکے چنجے دے او هغه په کومه خلهٔ د خدایئ دعوه کوی او یا اونو غرونو یا ددریابونو یا د سپوږمئ یا د نمر یا د سړی یا د پیری یا د قبر یاد ولی یا د پیغمبر عبادت کوی. او د خپل داسے لوئی خدائے طرفته توجو نهٔ کوی. او دهٔ له پریږدی د نورو مدد غواړی او د نورو نه خپل حاجتونه غواړی. لا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم.

[1] یعنی زهٔ قسم خورم په ستوری د ډوبیدو یا د راختو. او دا قسم که چرے پوهیږے نو ډیر لوئے قسم دے. د آخره پورے. ترَدے پورے فرمایلی دی چه تاسو خپله حصه دغه اخلئ چه دروغ ئے ثابتوئ. شیخ ابوعمرو وائی دا مقصود نهٔ دے چه ټول آیتونه د نوء په باب کښې نازل شی ولے چه تفسیر ددے د انکار کوی. بلکه دا آیت وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ. د نوء په باب کښې نازل دے او باقی

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ حُبَّ الْأَنْصَارِ وَعَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ مِنَ الإِيمَانِ وَعَلَامَاتِهِ وَبُغْضِهِمْ مِنْ عَلَامَاتِ النِّفَاقِ

باب: د انصارو او حضرت علي سره محبت ساتل په ايمان كښې داخل دي. او د دوی سره بغض ساتل د نفاق نخښه ده

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آيَةُ الْمُنَافِقِ بُغْضُ الأَنْصَارِ وَآيَةُ الْمُؤْمِنِ حُبُّ الأَنْصَارِ

د حضرت انس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي د منافق نخښه داده چه د انصارو سره به دشمنی ساتی او د مومن نخښه داده چه د انصارو سره به محبت لري[1]

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ حُبُّ الأَنْصَارِ آيَةُ الإِيمَانِ وَبُغْضُهُمْ آيَةُ النِّفَاقِ

د انس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي د انصارو سره محبت ساتل د ايمان نخښه ده او د هغوی سره دشمني ساتل د نفاق نخښه ده

عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي الأَنْصَارِ لاَ يُحِبُّهُمْ إِلاَّ مُؤْمِنٌ وَلاَ يُبْغِضُهُمْ إِلاَّ مُنَافِقٌ مَنْ أَحَبَّهُمْ أَحَبَّهُ اللَّهُ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ أَبْغَضَهُ اللَّهُ قَالَ شُعْبَةُ قُلْتُ لِعَدِيٍّ سَمِعْتَهُ مِنَ الْبَرَاءِ قَالَ إِيَّاىَ حَدَّثَ

د عدی بن ثابت نه روايت دے چه ما د براء بن عاذب نه اوريدلي دي او هغه د رسول الله ﷺ نه چه فرمايلي ئې وو د انصارو په باب كښې چه د هغوی دوست مومن دے او د هغوی دشمن منافق دے. او چا چه د هغوی سره محبت اوكړو الله به د هغوی سره محبت اوكړی او چا چه ورسره دشمنی اوكړه الله به د هغو سره دشمنی اوكړی شعبه وائی ما د عدی نه تپوس اوكړو چه تا دا حديث د براء نه اوريدلے دے؟ هغه اووے چه براء ما ته دا حديث بيان كړے دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يُبْغِضُ الأَنْصَارَ رَجُلٌ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ

د ابو هريره نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د انصارو سره به چرته دشمنی نه ساتی هغه سړے چه هغه ايمان لري په الله باندے او په ورځ د قيامت باندے

په بل باب كښې او د ابن عباس نه په روايت كښې صرف دا ايت مذكور دے او د هغې تفسير داده چه تاسو خپل شكر يا د خپل رزق شكر يا خپله حصه هم اخلئ د خدائے د رحمت نه او نسبت كوئ د رزق دستورو طرفته

[1] ولې چه انصار هغه خلق دي چا چه رسول الله ﷺ مدينې ته راغوښتلے وو او بيائے په هر قسم د هغه مدد اوكړو گويا اسلام لره مضبوطه او قانونكي دا انصار دي نو د دوی سره محبت ساتل د هر مسلمان فرض دي

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبْغِضُ الْأَنْصَارَ رَجُلٌ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

د ابوسعيد نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د انصارو سره چرته دښمني نه کوي هغه سړے چه هغه ايمان لري په الله او په ورځ د قيامت باندے.

عَنْ زِرٍّ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ إِنَّهُ لَعَهْدُ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيَّ أَنْ لَا يُحِبَّنِي إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضَنِي إِلَّا مُنَافِقٌ

د زر بن جيش (اسدی کوفی چه د يوسل شلو کالو يا ديرشو کالو يا اويشتو کالو شو نو مړ شو هغه د جاهليت زمانه ليدلے وه) وائی حضرت علی فرمايلي دي. قسم دے په هغه ذات چا چه دانه أوخيرله (او بيا هغه وابنه راأوتوکول) او روح ئے جوړ کړو. چه رسول الله خما سره وعده کړے وه چه نه ساتی محبت خما سره مګر مومن او نه ساتی دشمنی خما سره مګر منافق[1]

بَابُ بَيَانِ نُقْصَانِ الْإِيمَانِ بِنَقْصِ الطَّاعَاتِ وَبَيَانِ إِطْلَاقِ لَفْظِ الْكُفْرِ عَلَى غَيْرِ الْكُفْرِ بِاللّٰهِ كَكُفْرِ النِّعْمَةِ وَالْحُقُوقِ

باب: د عبادت په کمی سره د ايمان کميدل او ناشکرئ او احسان فراموشئ ته کفر ويل

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ وَأَكْثِرْنَ الِاسْتِغْفَارَ فَإِنِّي رَأَيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ جَزْلَةٌ وَمَا لَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ قَالَ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ وَمَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَغْلَبَ لِذِي لُبٍّ مِنْكُنَّ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا نُقْصَانُ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ او فرمايل چه اے د ښځو توليه! تاسو صدقه ورکوئ او استغفار کوئ ولے چه ما اوليدل په جهنم کښ اکثر ښځے دي. يوے عقلمندے ښځے اووے يا رسول الله څه سبب دے؟ او ښځے ولے زياتے دي په جهنم کښ؟ هغوی ﷺ او فرمايل هغه لعنت ډير کوی او د خاوند ناشکری کوی ما په عقل او دين کښ کمے او عقلمند لره بے عقل کونکی ستاسو نه زياتے څوک نه دی ليدلی. هغے ښځے اووے زمونږ په عقل او دين کښ څه کمے دے؟ حضرت ﷺ او فرمايل د عقل کمے خو دے

[1] حضرت علی د حضور ﷺ د تره څوئ او د هغه زوم وو. او د وړوکوالی نه ئے ايمان راوړے وو. او حضرت ﷺ به د هغه سره ډير محبت ساتلو. هر کله چه لوئے شو نو ډير امداد اوکړو هغه د حضرت ﷺ او په جنګونو کښ ئے ډيره بهادری او خان قربانی ورکوله او سخت کافران ئے اووژل نو د هغه احسان په هر مسلمان باندے دے. او هر يو مسلمان لره د هغه سره محبت ساتل ضروری دی

الْعَقْلِ وَالدِّينِ قَالَ أَمَّا نُقْصَانُ الْعَقْلِ فَشَهَادَةُ امْرَأَتَيْنِ تَعْدِلُ شَهَادَةَ رَجُلٍ فَهٰذَا نُقْصَانُ الْعَقْلِ وَتَمْكُثُ اللَّيَالِيَ مَا تُصَلِّي وَتُفْطِرُ فِي رَمَضَانَ فَهٰذَا نُقْصَانُ الدِّينِ

نه معلومیږی چه د دوو ښځو گواهی د یو سړی د گواهئ برابر ده. او ددین کمے داده چه ښځه د څو ورځو پورے (په هره میاشت کښ) مونځ نه کوی (د حیض په وجه سره) او د رمضان روژے نه نیسی (د حیض په ورځو کښ)[1].

---

[1] امام نوویؒ وائی دد ے حدیث نه ډیرے شان خبرے معلومیږی. یو خو ترترغیب معلومیږی د صدقے او نیکو کارونو او د استغفار په کثرت سره د کولو . دویمه دا چه په نیکو سره گناه ختمیږی لکه چه د قرآن کریم نه ثابته ده. دریمه دا چه د خاوند نا شکری او احسان فراموشی لویه گناه ده. او د جهنم وعده په هغه گناه کښ وی چه هغه کبیره وی. څلورم دا چه لعنت کول هم یو گناه ده مگر کبیره نه ده. ولے چه حضرت فرمایلی دی هغه لعنت ډیر کوی. او صغیره لره ډیر کول کبیره دے. او رسول الله ﷺ فرمایلی دی په مسلمان باندے لعنت ویل د هغه د قتلولو برابر دی او د لعنت په حرام کیدو باندے علماؤ لعنت کړے دے. او لعنت وائی په لغت کښ لرے غورځولو او ویستلو ته او په شرع کښ د الله د رحمت نه لرے کولو ته ویلے شی. نو دا خبره صحیح نه ده چه لرے کړی الله د رحمت نه چا لره د کومے پورے چه د هغه حال او د هغه د خاتمے حال معلوم نه وی. ځکه علماؤ ویلی دی چه په یو خاص سړی باندے لعنت کول خواه که مسلمان وی یا کافر صحیح نه دی. دد ے پورے چه په څناور باندے هم د کومے پورے چه په نصِ شرعی سره دا خبره معلومه نه وی چه هغه په کفر باندے مړ دے یا به په کفر مری. لکه ابوجهل یا ابلیس. لیکن لعنت کول د اوصافو سره خو حرام نه دی. پنځپله په حدیث کښ لعنت راغلے دے په هغه ښځه باندے چه هغه ویختهٔ د سر د څټ دپاسه منجیلئ کړی ، په گرمه اوسپنه بدن داغی ،نخښه جوړوی، یا ئے په بل داغی، په سُود خوړونکی باندے، په بل خوړونکی باندے، په تصویر جوړونکی ،په ظالمانو ،په فاسقانو ، په کافرو ، چه د زمکے نخښے ورانوی. کوم غلام چه د خپل مالک نه سوا بل خپل مالک اوگرځوی، څوک چه د خپل پلار نه سوا بل څوک خپل پلار جوړ کړی، څوک چه په اسلام کښ بدعت رااوباسی، یا د بدعتی مدد کوی وغیره وغیره په ډیر قسم خلقو باندے. پنځم دا چه د کفر اطلاق سوا د کفر شرعی نه په ناشکرئ او احسان فراموشئ باندے هم دے. شپږم دا چه په ایمان کښ کمی او زیاتے راځی. اووم دا چه امام او حاکم ته نصیحت کول او خپلے رعایاته او هغوی لره یرول د گناهونو نه او رغبت ورکول د عباداتونو صحیح دی. اتم دا چه شاگرد لره د استاذ او رعیت لره د امام نه تپوس کول او په هغهٔ باندے سوال کول صحیح دی. هر کله چه د هغهٔ په پوهه کښ څهٔ خبره نه راځی. نهم صرف د رمضان ویل صحیح دی. میاشت د رمضان یا شهر رمضان ویل ضروری نه دی. امام ابو عبدالله مازریؒ وائی دا چه کومه د ښځو د عقل د کمی او د هغوی د گواهئ نه رااووته. دا اشاره ده. دد ے آیت طرفته أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا د آخره پورے. یعنی که د یوے ښځے هیر شی نو بله به ئے ورته یاده وی. دد ے نه معلومه شوه چه په ښځو کښ ضبط او حفظ کم دے. او اختلاف ئے کړے دے خلقو په عقل کښ. بعضو ویلی دی عقل علم ته ویلے کیږی. او بعضو ویلی دی چه بعضے ضروری علومو ته ویلے کیږی. او بعضو ویلی دی عقل یو قوت دے چه د هغے په وجه سره تمیز کیږی د معلوماتو په حقائقو کښ. او د عقل په حقیقت او د هغے په قسمونو کښ ډیر اختلاف دے چه هغه مشهور دے. او څهٔ حاجت د هغے د بیانولو په دے مقام باندے نشته دے. بیا اختلاف کړے دے خلقو د عقل په ځائے کښ متکلمین وائی چه د عقل ځائے زړهٔ دے. او بعضے علماؤ ویلی دی چه د عقل ځائے دماغ دی.

مترجم وائی چه د حال حاکمانو په ډیرو دلائلو سره دا خبره ثابته کړے ده. چه د عقل او د تولو قوائے مُدرِکه لوښے دماغ دی. او څوک چه دا دلائل غواړی هغه دِ د حکمت د کتابونو په طرف رجوع اوکړی. او ښهٔ معنیٰ د عقل داده. چه په وجه د مختلفو تجربو او واقعاتو چه کوم قوت مدرکه ته یو حالت حاصلیږی. چه د هغے په وجه سره هغه تمیز کوی په ښهٔ او بد صحیح او فاسد کښ.

بَاب بَيَانِ إِطْلَاقِ اسْمِ الْكُفْرِ عَلَى مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي يَقُولُ يَا وَيْلَهُ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ يَا وَيْلِي أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ فَلِي النَّارُ

باب : کوم سړے چه مونځ پریږدی د هغهٔ د کفر بیان

د ابوهریرهؓ نه روایت دے . رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بنیادم چه کله آیت د سجدے اولولی او بیا سجده کوی نو شیطن په ژړا ژړا یو طرفته لاړ شی.او وائی خرابی ده د هغهٔ یا خما دے سړی ته د سجدے حکم اوشو اودهٔ سجده اوکړه اوس بهدهٔ ته جنت ملاویږی او ماته د سجدے حکم اوشو ما انکار اوکړو یا نافرمانی م اوکړه نو خما دپاره جهنم دے[1]

بیا امام نوویؒ وائی چه رسول الله ﷺ چه کوم د ښځو ددین کمے په ورخو د حیض کښ د مونځ نهٔ کولو او روژه نهٔ نیولو سره بیان کړے دے. هغے لره بعضے خلقو مغکل ګنړلے دے. حالانکه دا مشکل نهٔ دے. ولے چه ددین او د اسلام او د ایمان یوه معنی ده او ټولو عباداتو ته ایمان او دین ویلے شی. او هر کله چه دا معلومه شوه نو د چا عبادات چه زیات دی. د هغهٔ ایمان او دین هم زیات دے. او د چا عبادتونه چه کم دی د هغوی ایمان او دین هم کم دے.بیا نقصان ددین کله خو په دے شان وی چه انسان د هغے په وجه سره ګنهګاریږی لکه یو مونځ یاروژه پریښودل بغیر د عذر نه. او کله په دےشان سره وی چه انسان د هغے په وجه سره نهٔ ګنهګاریږی لکه جهاد یا جمعه پریښودل په شرعی عذر سره ، او کله په ورخو کښ مونځ یا روژه پریږدی. کهٔ چرے څوک دا اووائی چه حائضه یعنی د حیض په دوران کښ چه هر کله ښځه معزوره ده نو پکار ده چه د حیض په حالت کښ هغے ته مانخهٔ ثواب ورکړے شی. اګر کهٔ هغه ددغه مانخهٔ قضاء نهٔ راوړی لکه مریض یا مسافر ته چه د نفلونو چه هغه هغےلره په حالت د صحت او اقامت کښ اداکوی ثواب میلاویږی. نو جواب ددے دا دے چه په ظاهر د حدیث نه دا معلومیږی چه حائضے لره ثواب نهٔ وی او فرق دادے چه مریض یا مسافر نفلونو لره په نیت د همیش والی ادا کوی نو هغه ددے لائق دی په خلاف د حائضے ښځے چه د هغے خو نیت هم دغه وی چه د حیض په حالت کښ مونځ پریښودلے شی. بلکه د مانخهٔ نیت د حیض په حالت کښ حرام دے نو د حائضے نظیر هغه مریض یا مسافر دے چه هغه په بعضو وختونو کښ نوافل یعنی نفلو نه ادا کوی او په بعضے وختونو کښ نهٔ ادا کوی. داسے مریض یا مسافر ته د نفلونو ثواب نهٔ ملاویږی په خپل مرض یا سفرکښ هر کله چه هغه دے لره ادا نهٔ کړی انتهی ما قال النووی

[1] امام نووی وائی چه د مسلم مقصود ددے حدیث د ذکر کولو نه دادے چه د بعضے افعالو په ترک سره کفر جوړیږی یا حقیقتاً یا برائے نام او د شیطان کفر د سجدے نه کولو د وجے نه ماخوذ دے د دے ایت نه وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا اِلَّآ اِبْلِيْسَ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِيْنَ او یاد کړه هغه وخت چه هر کله مونږ اووے فرښتوته چه آدم علیه السلام ته سجده اوکړئ نو هغوی سجده اوکړه مګر ابلیس اونهٔ کړه او غرور ئے اوکړو او وو دے د کافرانو نه جمهور علماؤ دا ویلی دی چه ددے مطلب دادے چه د الله تعالی په علم کښ هغه کافر وو او بعضے وائی چه كَانَ په معنی د صَارَ دے یعنی شو د کافرانو نه لکه وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ

عَنْ جَابِرًا يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ

د جابر رضي الله عنه نه روایت دے ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمایلی ئے وو د بنده او د شرک او کفر په مینځ کښې د مانځه پریخودل دی[1]

بَاب بَيَانِ كَوْنِ الْإِيمَانِ بِاللهِ تَعَالَى

باب : په الله پاک باندے ایمان راوړل د ټولو

[1] نووي رح وائی دد ے حدیث معنی داده چه د کفر نه منع کیدل د مانځه نه پرینبودل دی بیا چه هر مونځ پریخودے شو نو د بنده او د شرک او د کفر په مینځ کښې څۀ منع کونکے پاتے نۀ شو. او شرک او کفر یو دی. او کله شرک خاص کیږی په بت پرستو سره نو کفر عام وی د شرک سره او کوم سړے چه مونځ پریږدی او د هغے د فرضیت نه انکار اوکړی نو هغه کافر دے په اجماع د اهل اسلام او د دین د اسلام نه وتلے دے. لیکن په داسے صورت کښې چه هغه نوے مسلمان شوے وی او د اسلام د ارکانو نه واقف نۀ وی نو هغه نۀ کافر کیږی. او کوم سړے چه مونځ فرض ګڼړی خو د سستی او کاهلئ (سټړی والی) په وجه هغے نه پریږدی نو په دے باب کښې د عالمانو اختلاف دے د امام مالک او شافعی رحمهما الله او د جمهور سلف او خلف دا قول دے چه هغه کافر نۀ دے بلکه فاسق دے. دد ے نه به توبه کولے شی بیا کۀ چرے توبه نے کړه او مونځ نے کوو خو خیر ګنی بیائے به حداً قتل کړی لکه محصن زناکار چه سنګسار کوی خو پریخودونکے د مانځه به په تُوره سره قتلوی او د یو جماعت د سلفو دا قول دے چه هغه به کافر کیږی. او دا منقول دے د حضرت علی رضي الله عنه نه او دا مروی دے د امام احمد رح نه او دے طرفته تلے دے عبدالله بن مبارک او اسحق بن راهویه رحمهما الله په السراج الوهاج کښې دی چه ظاهر حدیث دد ے مذهب تائید کوی او دے لره ثابت کړے دے دحدیثو عالمانو او د علامه ابن قیم رح یو جدا کتاب دے په دے باب کښې هغوی د مخالفینو د ټولو دلیلونو جواب ورکړے دے. او امام شوکانی رح په "السیل الجرار" کښې دے لره اختیار کړے دے او حاصل داد ے چه څوک قصداً مونځ پریږدی هغه د قتل لائق شو. او د مسلمانانو په حاکم باندے واجب دی چه دے قتل کړی او دۀ ته به ویلے شی چه مونځ اوکړه بیا کۀ چرے دہ انکار اوکړو نو سمدستی به قتولے شی او څۀ ضرورت نشته چه مهلت ورته ورکړے شی دۀ ته د دریو ورځو بلکه د انکار کولو سره به دۀ لره قتلوی او ما دے لره په "هدایة السائل" کښې په تفصیل سره بیان کړی دی انتهی. امام نووی رح وائی چه امام ابوحنیفه رح او د خاوندانو د کوفے نه د یو جماعت دا قول دے چه هغه کافر نۀ دے او نۀ به قتلید ے شی بلکه دۀ لره به سزا ورکولے شی او قید کولے به شی د هغے پورے چه مونځ شروع کړی او کوم سړے چه د کفر قائل شوے دے د هغۀ دلیل ظاهر حدیث دے او څوک چه وائی دے مۀ قتلوئ د هغوی دلیل هغه حدیث دے چه حلاله نۀ ده د مسلمان وینه مګر په دریو خبرو کښې په یوه خبره سره او په دے کښې د مانځۀ پریخودل نشته او جمهور چه کوم وائی چه هغه کافر نۀ دے. نو دلیل راوړی دد ے آیت نه اِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاءُ یعنی الله پاک نۀ بخښی مشرک لره او بخښی دد ے نه سوا هغه چا لره چه رضا شی. او په دے حدیث سره چه چا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اووے هغه به جنت ته خی او کوم بنده چه مړ شی په لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ باندے یقین اوکړه چه هغه به جنت ته خی. او دۀ لره قتلول نۀ دی پکار دد ے دلیل داد ے آیت فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ یعنی کچرے هغه توبه کړی او مونځ کوی او زکوٰة ورکوی نو هغه پریږدئ معاف نے کړئ او دا حدیث دے چه ماته حکم شوے د جنګ کولو د خلقو سره تر دے پورے چه هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اووائی او مونځ کوی او زکوٰة ورکوی بیا چه هر کله هغه داسے کوی نو بچ کړه هغوی خپله وینه او مال او د هغے تاویل داد ے چه بنده د مانځۀ په پریخودو سره د هغه سزا مستحق دے کومه چه کافرانو ته ورکیږی یعنی د قتل. یا حدیث محمول دے په دے باندے چه څوک مونځ پریخودل صحیح اوګڼړی یا د هغه انجام کدر دے یا د هغۀ فعل د کافرو پشان دے (انتهی)

أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ بِاللهِ قَالَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ قَالَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ حَجٌّ مَبْرُورٌ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ الْإِيمَانُ بِاللهِ وَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِهِ قَالَ قُلْتُ أَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ قَالَ أَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا وَأَكْثَرُهَا ثَمَنًا قَالَ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ قَالَ تُعِينُ صَانِعًا أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ ضَعُفْتُ عَنْ بَعْضِ الْعَمَلِ قَالَ تَكُفُّ شَرَّكَ عَنِ النَّاسِ فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ مِنْكَ عَلَى نَفْسِكَ

کارونو نه مخکښ دي

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه کوم یو کار غوره دے؟ (یعنی د ټولو نه زیات) حضرت ﷺ اوفرمائیل ایمان په الله باندے راوړل. بیا تپوس اوشو ددے نه روستو څه دي؟ حضرت ﷺ اوفرمایل جهاد په لاره د الله تعالی کښ. بیا تپوس اوشو ددے نه روستو څه دي؟ حضرت ﷺ اوفرمایل حج مبرور[1].

د ابوذر ؓ نه روایت دے د رسول الله ﷺ نه ما تپوس اوکړو چه کوم یو عمل غوره دے؟ هغه اوفرمایل په الله پاک باندے ایمان راوړل او د هغه په لار کښ جهاد کول. ما اووے کوم غلام ازادول غوره دي؟ هغوی اوفرمایل کوم غلام چه خپل مالک ته ښه معلومیږي او چه قیمت ئے زیات وي. ما اووے که چرے زه دا اونه کړم. نو هغوی ﷺ اوفرمایل د چا جوړونکي یا مزدوري کوه د بے هنر دپاره (یعنی څه کار کسب ئے نه وي او د ډوډۍ محتاج وي) ما اووے یا رسول الله که چرے زه پخپله کمزورے شم یا څه کسب نه شم کولے. نو حضرت ﷺ اوفرمایل نو د چا سره بد مه کوه دا ستا صدقه ده. په خپل ځان باندے[2].

---

[1] : نووي ؒ وائي حج مبرور هغه دے چه په هغے کښ څه ګناه نه وي. او بعضو ویلي دي چه کوم حج قبول شي الله ته یا چه څوک صادق وي خالص د خدائے دپاره وي. بیا د قبلیدو نخښه داده چه د حج نه پس به نیک کار کوي او د ګناهونو نه به ځان بچ ساتي.

[2] . ما تپوس اوکړو کوم یو عمل غوره دے؟ حضرت ﷺ اوفرمایل ایمان راوړه په الله باندے. دے نه معلومه شوه چه د عمل اطلاق په ایمان باندے هم دے. او مراد دے نه هغه ایمان دے. چه د هغے په سبب سره بنده مسلمان وي. او هغه د زړه نه یقین او په ژبه سره اقرار کول دي. د شهادتینو یقین خو د زړه عمل دے. او په ظاهر اقرار کول د ژبے عمل دے. او دلته په ایمان کښ نور اعمال داخل نه دي. لکه مونځ، روژه، حج جهاد وغیره. ولے چه دے لره مخکښ بیان کړی دي. او ددے سره دا نه لازمیږي چه دے اعمالو ته د ایمان نه شي ویلے «السراج الوهاج»

تپوس اوکړے شو کوم یو غلام ازادول غوره دي. حضرت ﷺ اوفرمایل کوم چه خپل مالک ته ښه معلوم شي. دا هله دے چه یو غلام ازادول غواړي. او کوم چه دده سره روپۍ وي د هغے په بدله دوه غلامان ده ته ملاویدے شي. خو اعلی غلام یو راخي. نو دوه

عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَتُعِينُ الصَّانِعَ أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ

د ابوذر نه هم په دویم روایت کښې په دے شان دی چه د صنعت کار مدد کوه. یا مزدوری کوه د هغه چا دپاره چه بے هنره وی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ قَالَ الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا قَالَ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ فَمَا تَرَكْتُ أَسْتَزِيدُهُ إِلَّا إِرْعَاءً عَلَيْهِ

د عبدالله ابن مسعود نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو کوم يو کار غوره دے؟ (یعنی د هر څۀ نه زیات په ثواب کښې نو هغوی ﷺ اوفرمایل مونځ کول په خپل وخت باندے. ما اووے بیا کوم یو؟ هغوی اوفرمایل نیکی کول د مور پلار سره (یعنی هغوی خوشحاله او راضی ساتل او د هغوی سره احسان کول او د هغوی د دوستانو سره هم سلوک کول) ما اووے بیا کوم عمل غوره دے؟ هغهٔ اوفرمایل جهاد کول د الله په لار کښې. بیا ما

اخستل او ازادول غوره دی د یو بنده د آزادولو نه او دا د قربانئ په خلاف دے. په قربانئ کښې څربه تازه بزه د دوو کمزور بزو نه غوره ده (السراج الوهاج)

اوویلے شو کۀ چرے زۀ دا اونۀ کړم؟ حضرت ﷺ اوفرمایل د چا صنعت کار مدد کوه. په السراج الوهاج کښې دی چه په بعضے نسخو کښې د صانع په ځائے صائع دے یعنی ویلی کونکے. او په بعضو نسخو کښې ضائع دے. مګر صحیح صانع دے په صاد مهمله سره چه په کوم صورت کښې صانع وی په صاد او نون سره نو معنٰی به داوی چه مدد کوه د چا کاریګر چه هغه په لاسونو سره محنت او مزدوری کوی. لکه ترکهان یا لوهار یا درزی وغیره. نو دا تولے ګټے حلالے دی. او مراد هغه کسب ګر دے چه هغۀ ته د هغۀ ګټه نۀ پوره کیږی. او د هغۀ بال بچ ډیر وی. چه د هغوی پرورش د هغۀ په ګټه کښې ګران وی. نو د هغۀ امداد کول ډیر لوئے ثواب دے. او په کوم صورت کښې چه ضائع وی. په ضاد معجمه سره نو هغه د ضیاع نه دے. چه د هغے معنٰی د عیال ده. یعنی څوک چه بال بچه داره وی او غریب وی. نو د هغۀ مدد کوه. او په کوم صورت کښې چه صائع دے په صاد مهمله او غین معجمله سره نو معنٰی ئے نۀ جوړیږی. ولے چه صائع د سروزرو او سپینو زرو ویلی کولو والاته ویلے شی. نو بیا د هغے د خصوصیت څۀ وجه نشته دے. او امام نووی رحمه الله په دے مقام باندے دوه لفظونو لره نقل کړی دی. یو صانع په صاد مهمله او نون سره. دویم ضائع په ضاد معجمه او عین مهمله سره بیانئے دا ویلی دی چه صحیح د عالمانو په نز صانع په صاد مهمله او نون سره دے او قرینه په دے باندے داده چه مقابله شوے ده د دے په اخرق سره او اخرق هغه چا ته وائی چه هغه له څۀ هنر او کسب نۀ ورځی. او ابن طاهر په مجمع البحار کښې هم صرف دوه لفظونه نقل کړی دی. بیانئے دا ویلی دی چه بعضو صانع ته چه په صاد مهمله او نون سره دے صحیح ویلی دی. نو معلومه نۀ ده. چه په السراج الوهاج کښې دا دریم لفظ صائع د کوم په صاد مهمله او غین معجمه سره د کوم ځائے نه نقل شوے دے. او شاید چه دا سهو وی والله اعلم.

او دا چه ئے کوم فرمایلی دی د چا سره بد مۀ کوه دا ستا صدقه ده په خپل خان باندے. لکه په صدقه ورکولو سره چه بل ته فائده حاصلیږی دغه شان په بدئ نۀ کولو سره نفس ته فائده حاصلیږی. په دنیا کښې آرام او په آخرت کښې ثواب ملاویږی.

زیات تپوس کول پرینبودل اود هغوی رعایت مے اوکړو دے دپاره چه په هغهٔ باندے بوجه یعنی تکلیف نهٔ شی

عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي صَاحِبُ هٰذِهِ الدَّارِ وَأَشَارَ إِلَى دَارِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابو عمرو شیبانی نه روایت دے چه ماته بیان کړے دے دغه کوروالاو اشاره ئے اوکړه د عبد الله بن مسعودؓ د کور په طرف اوئے ویل تپوس اوکړو ما د رسول اللهﷺ نه چه کوم کار ډیر غوره دے الله ته؟ دد ے نه پس ئے پوره حدیث بیانکړي کوم چه وړاندے تیر شو.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ وَأَشَارَ إِلَى دَارِ عَبْدِ اللهِ وَمَا سَمَّاهُ لَنَا

او په دویم روایت کښ هم دغه شان دی په هغے کښ دادی چه ابوعمرو شیبانی اشاره اوکړه د عبد الله بن مسعودؓ د کور طرفته او د هغهٔ نوم ئے وانهٔ خستو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ أَوِ الْعَمَلِ الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا وَبِرُّ الْوَالِدَيْنِ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمایلی دی د ټولو کارونو نه مخکښ یا د ټولو نه اوچت کار مونځ کول دی په خپل وخت باندے او نیکی کول دی د مور پلار سره[1].

---

[1] امام نوویؒ وائی په دے مقام باندے یو اشکال دے او هغه دادے چه په بعضے روایتونو کښ ئے د ټولو نه غوره ایمان ګرځولے دے او بیا جهاد او بیا حج او په بعضے کښ ئے ایمان او جهاد لره او مانځهٔ لره بیا د مور پلار سره سلوک کولو لره بیا جهاد لره او په بعضے کښ په غله خوړونکی او هر چا ته سلام کولو لره. او په بعضے کښ قرآن ایزده کولو او ښودلو لره او دد ے په مثل په ډیرو صحیح احادیثو کښ ذکر دی. نو اختلاف کړے دے علماؤ چه څنګه به جمع کیږی دے اختلاقونو لره حلیمی د قرال شاشی کبیر نه نقل کړے دے. چه په دوه قسمه سره جمع کیدے شی یوه خو دا چه دا اختلاف په اعتبار د اختلاف احوال او اشخاصو دے. او کله وائی دا خبره د ټولو نه غوره ده. او دا مراد نهٔ دے چه هر قسم یا د هر سړی دپاره غوره دے. او دلیل دد ے دادے چه دا ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. چا چه حج نهٔ دے کړے د هغهٔ دپاره حج د څلویښتو جهادونو نه غوره دے او چا چه جهاد نهٔ دے کړے د هغه دپاره جهاد د څلویښتو حجونو نه غوره دے. دویمه دا چه د افضل الایمان نه مخکښ د منْ لفظ محذوف وی نو ترجمه به دا شی چه غوره د کارونو نه ایمان دے او جهاد دے. په دے صورت کښ څهٔ اشکال نشته دے. لکه چه وائی فلانے سړے په دے خلقو عاقل دے. یا افضل دے او مراد داوی چه د هغوی د عاقلانو یا غوره خلقو نه دے. او داسے قول دے د رسول اللهﷺ چه غوره په تاسو کښ هغه دے چه هغه د خپل کور د خلقو دپاره غوره وی. او معلومه ده دا خبره چه د کور والاد غوره کیدو نه د ټولو خلقو سره غوره کیدے نهٔ شی. او دغه شان خلق وائی چه د ټولو نه زیات د عالم نه نفرت کونکی د هغه ګاونډیان وی. حالانکه ممکنه ده چه یو سړے ددهٔ د ګاونډیانو نه هم زیات ددهٔ پرواه نهٔ لری. دا کلام دے د قفال په دے صورت کښ به ایمان د هر څهٔ نه افضل وی او باقی عملونه به برابر وی په غوره والی کښ. خو په بعضے خاصو صورتونو کښ یا په خاصو سړو کښ یو مقصود نهٔ دے بلکه محض د ترتیب ذکری دپاره دے. لکه ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او قاضی عیاضؒ د جمع دپاره هغوی وائی چه په جواب کښ اختلاف په وجه د

بَابُ كَوْنِ الشِّرْكِ أَقْبَحَ الذُّنُوبِ وَبَيَانِ أَعْظَمِهَا بَعْدَهُ

باب: شرک د ټولو ګناهونو نه لویه ګناه ده او دهغې نه پس چه کومه ګناه ده د هغې بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ قَالَ أَنْ تَجْعَلَ لِلهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ قَالَ قُلْتُ لَهُ إِنَّ ذٰلِكَ لَعَظِيمٌ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ مَخَافَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ

د عبدالله ابن مسعودؓ نه روایت دے چه ما د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو. چه کومه ګناه د الله په نز لویه ده. حضرتؐ اوفرمایل دا چه ته د الله پاک سره شریک چا بل چا ته اووے. حالانکه ته الله پیدا کړے ئې (بیا ته خپل صاحب پیدا کونکی والا لره پریږدے او بل لره مالک جوړه وی. دا ډېره لویه تیارۀ ده او مالک به په دے کار سره ډېر ناراضه شی) ما اووے دا خو لویه ګناه ده. اوس دد ے نه پس کومه ګناه ده؟ هغوی اوفرمایل چه ته خپل اولاد (هلک یا جینۍ) اووژنے دد ے یرے نه چه ستا سره به ډوډۍ اوخوری. بیا ما اووے چه کومه ګناه لویه ده د خدائے په نز. هغویؐ اوفرمایل چه ته زنا اوکړے دخپل ګاونډی د ښځے سره[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے. یو سړی اووے یا رسول اللهؐ د

اختلاف د احوال دے. نو او ښودو حضرتﷺ هر قوم ته هغه کار چه هغه ډیر ضروری وو په هغه زمانه کښې په وجه د شروع د زمانے د اسلام. او خاوند د تحریر وه دا وجه بیان کړے ده او دویمه دا چه ثُمَّ په کلام د عربو کښې ترتیب لره مقتضی نه دے. او دا قول شاذ دے د اهل عربیت او اُصولو په نز. بیا صاحب تحریر وائی چه صحیح دا ده چه جهاد لره حضرتﷺ وړاندے کړے په دے واسطه چه مراد د حضرتﷺ هغه زمانه ده چه هر کله د جهاد ډیر زیات ضرورت شی او د کافرانو ګنړه شی. دغه وخت خو جهاد په ټولو باندے فرض کیږی. او په جهاد کښې د ټولو مسلمانانو فائده ده. او حج خو په بل وخت کښې هم ادا کیدے شی. انتهٰی ما قال النووی ملخصاً.

[1] یعنی غریب نے او تاته پخپله د خپل خان او د بی بی د خوراک تکلیف وی. نو دا خیال اوکړے چه په اولاد به د کوم خائے نه خورم او هغه او وژنے نو دا لونے ګناه ده. کوم چه د شرک نه ورستو ده خو د نورو ټولو ګناهونو نه وړاندے ده. د څۀ دپاره چه دا ګناه څۀ ده؟ چه مجموعه ده د ګناهونو. اول خو ناحق وینه تویول. دویم د خدائے په نسبت بد اعتقاده کیدل هغه چه چا لره پیدا کوی هغه له دا رزق هم ورکوی. دریم حرص خوړلو والا. څلورم بخیل. پنځم بے رحمی. شپږم بخیل توب او بے همّتی. خدائے پاک د مونږ د داسے خیالونو نه بچ کړی. د هغۀ د بی بی یا د ښځے سره. هر څنګه زنا مطلقًا د هرے ښځے سره چه وی لویه ګناه ده. خو د ګاونډی د ښځے سره نور هم لویه ګناه ده. ولے چه ګاونډی دا توقع لری چه ددۀ ګاونډی به ددۀ مدد کوی. د ضرورت په وخت به ددۀ د بال بچ حفاظت کوی. بیا په داسے موقع کښې د هغۀ د بی بی سره زنا کول ډېره لویه بے حیائی او خیانت د خدائے پاک د تر نه مونږه ټول بچ اوساتی. آمین

اللهِ أَيُّ الذَّنْبِ أَكْبَرُ عِنْدَ اللهِ قَالَ أَنْ تَدْعُوَ لِلّٰهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ مَخَافَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ تَصْدِيقَهَا وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا

الله په نز کومه یوه گناه لویه ده؟ هغوی اوفرمایل دا چه ته شریک کړے چا لره د الله سره حالانکه ته پیدا کړے الله ئے. هغه اووے بیا کوم گناه لویه ده؟ دا چه ته قتل کړے خپل اولاد لره د دے یرے نه چه هغه به خوراک کوی ستا سره. هغهٔ اووے بیا څهٔ ده؟ هغوی اوفرمائیل دا چه ته زنا اوکړے د خپل گاونډی د ښځے سره. بیا الله تعالی په قران مجید کښ د دے موافق را اولیږل وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ. د آخره پورے یعنی د الله تعالی خاص بندگان هغه دی چه هغه اواز نهٔ کوی د خدائے پاک سره چا بل خدائے ته او نهٔ قتلوی هغه روح لره چه د هغے قتلول الله پاک حرام کړی دی سوا د څهٔ حق د بدلے نه او زنا نهٔ کوی او څوک چه دا کار کوی هغه به د هغے سزا اومومی

بَابُ الْكَبَائِرِ وَأَكْبَرِهَا

باب په بیان د هغه گناهونو کښ کوم چه کبیره دی. بیا چه په دوی کښ کوم لوئے لوئے گناهونه دی د هغو بیان

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ ثَلَاثًا الْإِشْرَاكُ بِاللهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَشَهَادَةُ الزُّورِ أَوْ قَوْلُ الزُّورِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا فَجَلَسَ فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتّٰى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ

دابوبکرهؓ نه روایت دے مونږ د رسول الله ﷺ سره وو. هغویؐ اوفرمایل ولے زهٔ تاسو ته او نهٔ ښایم کبیره لوئے گناه، درے ځله هغوی اوفرمایل شرک کول د الله سره (دا خو ظاهره ده چه د ټولو نه لوئے کبیره گناه ده) دویم نافرمانی کول د پلار مور، دریم د دروغ ویل. او رسول الله ﷺ ډډه وهلے وه نو کیناست او بار بار ئے دا فرمایل (د دے د پاره چه خلق ښهٔ خبر شی او د دے کارونو نه رلواوړی) مونږ په خپل زړهٔ کښ اووے چه کاش دے چُپ شوے (د دے د پاره چه دهٔ ته زیات غم نهٔ شی د هغه کبیره گناهونو د

خيال كولو چه خلق هغے لره څۀ څۀ كوي [۱]

[۱] دكبيره گناهونو مُفصّل بيان: امام نوويؒ وائي چه علماؤ اختلاف كړے دے. د كبيره گناه په تعريف كښې. د ابن عباسؓ نه روايت دے دكوم څيز نه چه الله تالي منع فرمايلي ده. د هغے كول كبيره گناه ده. او دا اختيار كړے دے ابواسحق استاذ او قاضي عياض رح دا مذهب د محققينو ليكلے دے. او دليل د هغۀ دادے چه هر يو مخالفت دا الله د طرف نظر كولو سره كبيره دے. او جمهور سلف او خلف په دے طرف تلي دي. چه گناه په دوه قسمه دے يو صغيره بل كبيره. او د اهم د ابن عباس نه روايت دے. او د كتاب او د سنتو او د سلفو او د خلفو د اقوالو نه په دے باندے ډير دليلونه دي. امام غزاليؒ په "بسيط" كښې ليكلي دي. چه په صغيره او كبيره كښې چه كوم فرق دے. ددے انكار كول د فقهے نه لرے دے. ولے چه د شرعے د مضامينو نه دا امر ثابت دے. او نورو خلقو هم داسے ويلي دي. او بيشكه د الله جل جلاله مخالفت خواه هر څومره كۀ وړوكے وي ډير بد دے. په نسبت د الله د جلال او بزرگۍ خو بعضے مخالفت د بعضے نه ډير لوئے دے. او ددے وجے نه بعضے گناهونه داسے دي چه هغه معاف كيږي. مونځ او روژے او حج او عُمرے و اودس وغيره عباداتو سره لكه په احاديث صحيحه كښې وارد دي. او بعضے داسے دي چه هغه نۀ معاف كيږي بيا د اول قسم گناهونه صغائر دي. او دُ دويم قسم گناهونه كبائر دي. اوس هر كله چه دا ثابته شوه چه گناهونه په دوه قسمه دي. يو صغائر او بل كبائر نو علماؤ ددے په ضبط كښې لوئے اختلاف كړے دے. د ابن عباس نه روايت دے. چه كبيره هغه گناه دے. چه په هغے باندے الله پاك په آخرت كښې د جهنم وعده كړے ده. يا په دنيا كښې د څۀ سزا (حَد) امام غزاليؒ په "بسيط" كښې ويلي دي. چه غوره تعريف دادے چه كومه گناه انسان كوي هغے لره سپک اوگڼړي او د هغے نه نۀ يريږي او نۀ شرميږي هغه كبيره ده. او په كومه گناه سره چه دۀ ته خفگان راځي او ستومانه كيږي او په راتلونكي ژوند ئے د بچ كيدو سوچ كوي هغه كبيره نۀ ده. ابن الصّلاح وائي كبيره وائي لويو گناهونو ته او ددے څو نخښے دي. يوه دا چه په هغے كښې حد وي (لكه زنا يا غلا يا تهمت يا شراب خوري يا راه زني). دويمه دا چه په هغے باندے د جهنم د عذاب وعده شوے وي. دريمه دا چه ددے كوونكي ته فاسق ويلے شوے وي. څلورمه دا چه په هغے باندے لعنت وي. لكه لعنت كړے دے الله پاك په هغه چا باندے چه هغه د زمكے نخښے ورانوي. امام ابو محمد بن عبد السلام ويلي دي. هر كله چه ته صغيره او كبيره لره او پيژنے پكار ده چه ته د هغه گناه په بدوالي كښې غور اوكړے. كۀ چرے ددے بدوالے د هغه گناهونو د بدوالي چه هغے ته په حديث كښې كبيره ويلي شوي دي برابر وي يا زيات وي نو هغه كبيره دے. كني نو هغه صغيره دے. نو چا چه خداوند كريم ته بد ويلي دي يا ئے دهغۀ رسول ﷺ ته بد اووے يا ئے سپكوالے اوكۀ د چا پيغمبر يا ئے دروغجن اوگڼړو چا پيغمبر لره. يا ئے په كعبه كښې پليتي لولگوله يا ئے قرآن را اوخستو او په ناپاک ځائے كښې ئے اوغورځوو. نو دۀ ډيره لويه گناه يعني كبيره گناه اوكړه. حالانكه شرع دے افعالو ته كبيره نۀ دي ويلي. په دے شان كۀ چرے يو سړي يوه پاک دامنه ښځه او نيوه د زنا كولو دپاره. يا څوک مسلمان ئے اونيوو د وژنے تويولو دپاره. نو په دے كښې شک نشته چه ددۀ دا بدي د يتيم د مال خوړلو نه زياته شوه. او هغه كبيره ده. نو پس دا هم كبيره شوه. په دے شان كچرے كافرانو ته دَ مسلمانانو بچي او ښځے اوښائي او هغه په دے پوهه وي چه كافران به دوي لره تنگوي. او ښځو لره به بےعزته كوي. نو ددۀ بدوالے په ميدان جنگ كښې د تختيدو نه هم زيات دے. نو پس دا هم گناه كبيره شوه. دغه شان كچرے په يو سړي بوري داسے دروغ اوويلے شي. چه د هغے په وجه سره دروغ ويونكے پوهه وي په دے باندے چه ځما په دے دروغو ويلو سره به هغه اوژلے شي. نو د ايو گناه كبيره شوه. البته كۀ چرے ددغه دروغو په وجه يوه كهجوره د هغۀ لاړه شي. نو هغه كبيره نۀ ده. او شرعے ددے تصريح كړے ده چه د دروغو گواهي او د يتيم مال خوړل دواړه كبيره گناهونه دي. بيا كچرے ددے دواړو كارونو نه لوئے نقصان وي نو ظاهره خبره ده چه هغه گناه كبيره دي. او كوم نقصان چه ډير لږ وي خو بيا هم كبيره وي. ځكه چه ددے گناهونو شهرت اوشي. او خلق ددے نه قلار پاتے شي. لكه دشرابو يوه قطره څكل كبيره ده اگر كۀ ددے څۀ فساد نۀ وي. دغه شان ناحقه فيصله كول گناه كبيره

ده ولے چه د دروغو گواهی د ناحقے فیصلے کولو سبب دے. بیا چه هر کله دروغو گواهی گناه ده نو فیصله او په ناحقه حکم کول به ضرور کبیره وی او بعضے علماؤ داتعریف کړے دے چه کبیره گناه هغه ده چه د هغے سره څۀ وعید یا حد یا لعنت ذکر شوے وی یا چه کوم گناه په بدوالی کښ دداسے گناه برابر وی نو هغه هم کبیره وی امام ابوالحسن واحدیؒ وائی صحیح داده چه د تعریف څۀ حد نشته بلکه بعض گناهونو ته شرعے کبیره او بعضے ته ئے صغیره او د بعضے گناهونو ذکر شرع نۀ دے کړے په هغے کښ کبیره هم دی او صغیره هم او د نۀ بیانولو حکمت ئے دادے چه سړے دد ے تولو گناهونو نه دد ے یرے نه چه چرته کبیره نۀ وی بچ شی او دا داسے دی لکه چه شرع شبِ قدر لره او ساعتِ جمعے لره پټ کړے دے. علماء وائی چه صغیره گناه په بیا بیا کولو سره کبیره کیږی او د حضرت عمر او ابن عباس رضی الله عنهما نه منقول دی چه د توبے او استغفار سره یو گناه نۀ شی پاتے کیدے. او د بار بار کولو سره یو گناه صغیره نۀ ده. د دے مطلب دادے چه کبیره گناه په توبه او استغفار سره معاف کیږی. او صغیره په بیا بیا کولو سره کبیره کیږی. ابن عبد السلام ویلی دی چه د اصرار حد دادے چه دومره واره دغه گناه اوکړی چه د هغے نه ددۀ بے پرواهی معلومه شی په دے شان چه هر کله څو صغیره گناهونه تول یو ځائے کړے او د کبیره بدوالی ته اورسی. ابن الصلاح وائی چه اصرار دادے چه گناه کوی او د هغے نه د قلاریدو ارده نۀ لری. بلکه د بیا کولو اراده کوی یا همیشه هغے لره کوی. اردو والامترجم وائی د اصرار تعریف دا صحیح دے گنی بار بار کول اصرار نۀ دے کله چرے بار بار توبه یا خپیمانتیا وی. په یو حدیث کښ دی چا چه استغفار اوکړو هغه اصرار نۀ دے کړے اگر کۀ په ورځ کښ اویا ځله هغه گناه اوکړی. په حدیث کښ د عقوق لفظ دے چه د هغے معنی ده پریکول نه منل او عاق هغه چا ته وائی چه د خپل پلار اطاعت نۀ کوی. امام نوویؒ وائی کوم عقوق چه په شرعه کښ حرام دی د هغے تعریف کومو خلقو کړے دے شیخ امام عبد اللهؒ وائی ما عقوقِ ولدین او د هغو په حقوقو کښ څۀ قاعده نۀ ده موندلے دد ے دپاره چه په اتفاق د علماؤ په هر یو امر او نواهی کښ د والدینو اطاعت ضروری او واجب نۀ دے. البته جهاد بغیر د پلار مور د اجازت نه صحیح نۀ دے ولے چه په پلار مور باندے جهاد ډیر گران تمامیږی او د هغوی سره د خپل بچی د زخمی کیدلو یاوژلو یره وی او دد ے نه هغوی ته ډیر خفگان وی په دے باندے هر یو سفر قیاس کول پکار دی چه په هغے کښ د تلو چه د څۀ بل غم د رسیدو یره وی. ابن الصلاح وائی چه کوم عقوق چه حرام دے هغه دادے چه څۀ کار داسے اوکړی چه د هغے نه پلار مور ته تکلیف اورسی او تکلیف هم څنگه سخت په شرط دد ے چه هغه کار په دۀ باندے د شرع د طرفنه واجب او فرض نۀ وی او بعضو ویلی دی چه د پلار مور اطاعت په هر یو امر کښ واجب دے په شرط دد چه هغه امر گناه نۀ وی او د هغوی خلاف کول عقوق دے. او په مشتبه کارونو کښ هم د هغوی اطاعت بعضے علماؤ واجب کړے دے. او زمونږ علماؤ چه کوم طلب علم یا د تجارت دپاره سفر جائز کړے دے بغیر د پلار مورد اجازت نه هغه زمونږ دد ے کلام خلاف نۀ دے. کم چه مونږ بیان کړو. اردو والامترجم وائی چه د والدینو اطاعت په شان د فرضو او فرائضو دے مگر د خدای اطاعت د هغوی په اطاعت باندے مقدم دے. نو د هغوی په وینا به د خدائے تعالی فرض نۀ پریږدے او مباح، مسنون، او مستحب به د هغوی په وینا سره پریږدے. ولے چه د فرضو کول مقدم دی او جهاد ته تلل فرض عین نۀ دی. دد ے وجے نه بے د پلار مور د اجازت نه حرام دی. او د علم طلب فرض عین دے. دغه شان کسب د معشیت په وجه د اهل وعیال د تربیت نو په دے کښ اجازت د هغوی ضروری نۀ دے. او څومره چه کیدے شی چه دهغوی په خوشحالئ سره علم حاصل کړے او ډوډئ اوکټے نو غوره ده. امام نووی ویلی دی چه هر څنگه د پلار مور نافرمانی او ددروغو گواهی دواړه کبیره گناهونه دی. خو بیا هم هغه د شرک برابر کیدے نۀ شی. په دے صورت کښ تاویل کولے شی چه مراد هغه دروغجن گواه دے چه هغه کافر هم وی. یا مراد هغه سړے دے چه هغه دے کار ته صحیح وائی او کوی ئے یا دمنْ لفظ محذوف دے. یعنی دا څیزونه د کبیره گناهونو نه دی. او دا دریم تاویل صحیح دے دد ے دپاره ددروغو

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكَبَائِرِ قَالَ الشِّرْكُ بِاللهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَقَوْلُ الزُّورِ

د انس رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمايلي دي د کبيره ګناهونو په باب کښې هغه شرک کول دي د الله سره او نافرماني کول د مور او پلار او وينه تويول (يعني قتل کول په ناحقه سره) او دروغ ويل

أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَبَائِرَ أَوْ سُئِلَ عَنِ الْكَبَائِرِ فَقَالَ الشِّرْكُ بِاللهِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَالَ أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ قَالَ قَوْلُ الزُّورِ أَوْ قَالَ شَهَادَةُ الزُّورِ قَالَ شُعْبَةُ وَأَكْبَرُ ظَنِّي أَنَّهُ شَهَادَةُ الزُّورِ

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ بيان فرمايلے دے کبيره ګناهونو. يا د هغه نه چا تپوس اوکړو د کبيره ګناهونو. هغوی اوفرمايل شرک کول د الله سره. او ناحقه قتل کول او نافرماني د مور پلار کول. هغوی اوفرمايل زۀ تاسو ته اوښايم په ټولو کبائرو کښې کبيره. هغه دروغ ويل دي. شعبه وائی خما غالب ګمان دا دے. چه د دروغو ګواهي لره ئې فرمايلي دي[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا هُنَّ قَالَ الشِّرْكُ بِاللهِ وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ وَأَكْلُ الرِّبَا وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د اوو ګناهونو نه خان بچ اوساتئ؛ چه هغه ايمان لره په هلاکت کښې غورځوی صحابو اووے يا رسول الله ﷺ هغه کوم ګناهونه دي. هغه اوفرمايل د خدائے سره شريک جوړول، او جادو او هغه نفس قتلول چه د هغے وژل خدائے پاک حرام کړی دی. ليکن په حق باندے وژل صحيح دي. او سود خوړل او د يتيم مال خوړل او د جنګ په ورځ د

د ګواهي د بيانولو نه دا مقصود دے چه خلق د دے نه راواوړي او د کفر بدوالے خو هر سړی ته معلوم وو بيا د حديثو د اطلاق نه معلوميږي چه د دروغو هر قسم ګواهي کبيره ګناه ده خواه کۀ د لوئے حق د پاره وی. يا د وړوکی حق د پاره وی. انتهی

[1] د امام نووی نه چه کومه فائده پورته نقل شوه هغه د دے مقام سره متعلق ده او د دے نه معلوميږي چه هغه دروغو ګواهي لره شرک نه ولے زياته کړه او وجه د دے داده چه په دے محل باندے د دروغو د ګواهي نه يرول مقصود وو ولے چه د خلقو په دغه کښې د پريوتو وه. اګر چه د دروغو ګواهي يا دروغ ويل د شرک برابر نۀ دی ولے چه شرک د ټولو نه لوئے ګناه ده او يو راز دا هم دے چه شرک په حقيقت کښې د دروغو يو قسم دے يا د دروغو د ګواهي؛ ولے چه شرک په الله باندے د دروغو ګواهي ده. يا دروغ دی. لکه څنګه چه يو دروغ وی په بنديګانو پورے. دغه شان شرک دروغ دی په الله باندے چه چا دروغ ويل روا اوګڼړل يا ئے د دروغو ګواهي ورکړه هغه به شرک کولو کښې هم باک نۀ کوی او اکثر دا سے معلومه شوے ده. چه د دروغو ګواهي هغه خلق ورکوی چه د هغوی په زړۀ کښې د الله عظمت مطلق نۀ وی خو د هغۀ نوم اخلی او معاذ الله دروغ وائی او په دروغه قسم خوری د دوو پيسو په طمع کښې خپل ايمان خواره وی پس دا سے سړے په شرک کولو کښې يا د شرک په خبرے کولو کښې کله حصاريږي کۀ چرے هغه له يوه لږه غوندے طمعه ورکړے شی

الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ

کافرانو د مخې نه تختيدل او خاوند والا ايماندارو ښځو باندې عيب لګول چه هغه د بدکارۍ نه هډو خبر نه وي[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَهَلْ يَشْتِمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ قَالَ نَعَمْ يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ

د عبدالله بن عمرو بن عاص نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د کبيره ګناهونو نه خپل پلار مور ته کنځل کول دي خلقو اووے يا رسول الله ولې څوک خپل مور وپلار ته کنځل کوي هغه اوفرمايل آو. کوي څوک چه کنځل کوي د بل پلار ته بيا هغه کنځل کوي د دهٔ پلار ته او دے کنځل کوي د هغهٔ مور ته او هغه کنځل کوي د دهٔ مور ته[2].

بَابُ تَحْرِيمِ الْكِبْرِ وَ بَيَانِهِ

باب: کِبر (يعنی غرور او د ځان خودی) د حرمت بيان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ

د عبد الله بن مسعود نه روايت دی رسول الله ﷺ فرمائيلي دي جنت ته به لاړ نهٔ شي چه د چا په زړهٔ کښې د رتی برابر غرور اولونی

---

[1]: امام نووي وائي دا دليل دے. زمونږ د دے مذهب کوم چه صحيح او مشهور دے. چه جادو حرام دے او کبيره ګناه ده. يعنی د جادو کول او ايزده کول او بل ته ښودل ټول حرام دي. او زمونږ بعضے علماؤ ويلی دي. جادو ايزده کول حرام نهٔ دي بلکه جائز دي. د دے دپاره چه د جادو پيژنګلو اوشي. او د جادو ختمولو دپاره او جادوګرو لره د اولياء نه د جدا کولو دپاره . او د هغه خلقو په تر حديث محمول دے. د جادو په چلولو باندے. يعنی په هغوی باندے تهمت کول د زنا. امام نووي رحمه الله په دے روايت کښې اووه ګناهونه ذکر دي. او په يو روايت کښې درے او په يو روايت کښې څلور دي چه دا لوئے سخت ګناهونه دي. او اکثر واقع کيږي. خاص کر د جاهليت په زمانه کښې دا ګناهونه ډير واقع کيدل. او د دے نه پس په حديث کښې يو بل ګناه مذکور ده. خپل مور پلار ته کنځل کول او په حديث کښې چغل خوری او د متيازو نه پاکی نهٔ کول ذکر دي. او د مسلم نه سوا په نورو کتابونو کښې د دروغو قسم خوړل او د بيت الله حرمت ماتول هم راغلی دي. او علماؤ ويلی دي چه کبيره ګناه په دے کښې منحصر نهٔ ده. بلکه نور ډير کبيره ګناهونه دي. او د ابن عباس نه نقل دے. د هغهٔ نه چا تپوس اوکړو چه کبيره ګناهونه اووه دي. هغهٔ اووے د اووه نه د اوياؤ پورے دي. بلکه د اووهٔ سوو پورے. او پورته د کبيره تفصيل تير شو.

[2]: نو چا چه مخکښې کنځل اوکړل د غه سبب شو خپل پلار و مور ته د کنځلو کولو. نو داسے شوه لکه چه دهٔ پخپله خپل پلار مور ته کنځل اوکړو. د انسان عزت او حرمت پخپله د هغهٔ په لاس کښې دے. چا ته کنځل کول بيا د هغه سرې خوړل ځومره لوئے حماقت دے. نووي وائي د دے حديث نه دا معلوميږي چه کوم سړے سبب وی د څهٔ کار نو هغه کار دهٔ طرفته منسوب کيدے شي. او د بدکار چه کومه ذريعه وی هغه هم بده ده. نو شيره د انګورو خرڅول د هغه سړی په لاس چه هغه د هغے نه شراب جوړوی. يا وسله خرڅول د هغه سړی په لاس چه هغه سړے داکه کوی، ناجائز دي.

الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ قَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً قَالَ إِنَّ اللهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ

وي. يو سړي اووے. هر سړے غواړي چه د هغه پيزار د د نورو نه ښهٔ وي (نو ولے دا هم غرور او لوئي ده) هغهٔ اوفرمايل الله جميل دے. او خوښوي جمال لره. غرور او لوئي داده چه انسان حق لره ناحق کړي (يعني د خپلے خبرے په ضد يا نفسانيت سره يوه خبره واجبي او صحيح وي هغه رد کړي او نهٔ ئے مني) او خلقو لره هميشه دپاره کمزوري گڼړي[1].

---

[1] : يعني الله جل جلاله د تولو نه زيات پاکيزه او خوبصورت دے. نو هغه غوره کوي خوبصورتي او پاکيزگي او په صفايئ کښې ښائسته کپړے ښانسته پيزار چه څومره قدرے حلال دي. هغه اغوستل او زينت کول او خوشبوئي لگول دا امر تول د شرعي په رُو سره يعني د شريعت د طرفه حلال دي. بلکه غوره دي او دا څيزونه په کبر او غرور کښې داخل نهٔ دي. کچرے د يو سړي د جامو شوق وي هغه له د نورو نه غوره کپړے اغوستل پکار دي. يا پيزار په خپو کول نو دا بد نهٔ دي. بلکه ښهٔ دي. ولے چه صفائي د بدن او د جامے او پاکوالے دا صفتونه د رب ذوالجلال دي. او انسانانو ته په طبع سره دا کار خوښ دے. پس د دے حاصلول يا د دے شوق ساتل په هيڅ شان له بد کيدے نهٔ شي. او د دے شوق کبر او غرور کيدے نهٔ شي. بلکه د کبر هغه معنے دی کومے چه وړاندے بيان شولے. امام نوويؒ فرمائي دا چه کوم هغوي فرمايلي دي الله جميل دے او غوره کوي جمال لره. نو علماؤ د دے په معنو کښې دا اختلاف کړے دے بعضو ويلي دي چه د دے دا معانے دي چه دا الله هر يو صفت جميل دے. او هر يو کار جميل دے. يعني ښائسته او ښهٔ دے. او د هغهٔ تول نومونه ښهٔ دي. او تول صفتونه د جمال او کمال په هغهٔ کښې موجود دي. ابوالقاسم قشيريؒ وائي د جميل معنیٰ جليل يعني بزرگ دے. او خطابيؒ نقل کړے دے چه د جميل معنیٰ نوراني او روښانه دے. يعني هغه مالک دے د رڼرا او تازه والي. او بعضو ويلي دي خه د هغهٔ افعال ښانسته دي چه هغه نظر کوي په خپلو بندگانو باندے د رحمت سره او تکليف ورکوي په لږو آسانو کارونو کښې او ثواب ډير ورکوي. او جميل داسے اسم دے چه په صحيح احاديثو کښې د خدائے پاک دپاره راغلے دے. دا حديث خبر واحد دے او د اسماء حُسنیٰ په حديث کښې هم دا اسم موجود دے ليکن د هغے په سندونو کښې خبرے اترے دي. او مختار دا دے چه الله ته جميل ويلے شي او بعضے علماؤ د دے نه منع فرمايلے ده. امام الحرمين وائي چه د الله چه کوم اسماء او صفات په شريعت کښې وارد شوي دي. مونږ د هغے اطلاق کوو. او د کومو نه چه شريعت منع کړے ده. د هغے نه ځان ساتو. او کوم نومونه او صفات چه په شرعه کښې نهٔ دي راغلي د هغې د جواز يا عدم جواز د څهٔ هم مونږ حکم نهٔ کوو. ځکه چه د شريعت په احکام نص سره معلوم شوي دي. او کهٔ چرے مونږ د جواز يا عدم جواز حکم اوکړو. نو مونږ يو حکم اوکړو بغير د حکم شرعي نه بيا د اطلاق د جائز کيدو دپاره دا ضروري نهٔ ده چه موجب دے عمل لره اگر چه علم لره موجب نهٔ وي (يعني خبر واحد کافي دے) البته قياس لره په دے کښې دخل نهٔ شي کيدے. ختم شو کلام د امام الحرمين. او د هغهٔ درجه او مرتبه په هر يو علم کښې خصوصاً په دے فن کښې يعني په علم کلام کښې خو انتها درجه ده. او دا چه کوم هغوي ويلي دي چه مونږ د جواز او عدام جواز د څهٔ حکم نهٔ کوو. د کومے پورے چه دليل شرعي نهٔ وي. نو بناء د دهٔ په دے مذهب باندے ده چه مختار دے. او صحيح دے. د محققينو په نزّ چه په اصل اشياؤ کښې دا دے چه څهٔ حکم او نهٔ کړے شي. د کومے پورے چه شرعه وارد نهٔ وي نهٔ د حلال والي، نهٔ د حرام والي، نهٔ د اباحت. ولے چه د خاوندانو د سنتو په نزّ حاکم شرعه ده. او زمونږ بعضے عالمانو ويلي دي چه اصل په اشياء کښې اباحت دے. او بعضو ويلي دي چه اصل حُرمت دے. او بعضے وائي چه اصل

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرِيَاءَ

د عبد الله بن مسعود د نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی جهنم ته به لاړ نه شی (همیشه دپاره) چه د کوم سړی په زړهٔ کښې د اُورې د دانے په مقدار ایمان وی. او جنت ته به لاړ نشی هغه سړے چه د هغهٔ په زړهٔ کښې د اُورې د دانے په مقدار تکبر وی[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ

د عبدالله بن مسعود نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی جنت ته نهٔ شی تلے هغه سړے چه د هغهٔ په زړهٔ کښې په مقدار د زرے تکبر وی

توقف دے. او مختار هغه دے کوم چه وړاندے ذکر شو او اهل سنتو اختلاف کړے دے. چه په الله باندے دد ے اسماؤ او صفاتو کوم چه شرعه کښې وارد شوی نهٔ دی. اطلاق اوکړے شی یا اونهٔ کړے شی. په شرط دد ے چه هغه نومونه او صفات د جمال او جلال او کمال او دمدح وی. نوبعضو دد ے اطلاق جائز کړے دے. او بعضو منع کړے دے. د کومے پورے چه څهٔ دلیل قطعی لکه آیت یا حدیث متواتر یا اجماع نهٔ وی او د خبر واحد نه چه کوم اسم یا صفت ثابت شی د هغے په اطلاق کښې اختلاف دے قاضی عیاض وائی صحیح داده چه دد ے اطلاق جائز دے. انتهٰی ما قال النووی. او په سراج الوهاج کښې دی چه د الله په اسماؤ او صفاتو کښې وقوف صحیح دے یعنی کوم اسماء او صفات چه په شرعه کښې وارد شوی دی. د هغے اطلاق کول پکار دی. او د خپل طرفه نوے نوم او صفت جوړول غوره نهٔ دی. اگر کهٔ د هغے معنی ښکلے نهٔ وی. د امام بیهقی "کتاب الاسماء والصفات" په دے باب کښې زیات عمده او جامع کتاب دے فرمایلی دی چه خپل خان ته عالی او اوچت او معزز خیال کول یعنی نفس پروری کول. دا صفت دومره بد دے چه انسان ډیر زیات ذلیله کوی او خلق د هغهٔ نه خفه کیږی او دهٔ لره دشمن گنړی دد ے کم بخت صفت په وجه سره صرف دا عذاب نه دے چه د جنت نه به محروم شی. بلکه په دنیا کښې به هم ورته لوئے تکلیف او مصیبت وی او کوم سړے چه کبر کوی نو خودسره خلق په دے فکر کښې وی او په څهٔ نه څهٔ موقع باندے دهٔ لره ذلیله کوی چه ددهٔ ټول تکبر په پوزه راوخی. په حدیث کښې غمط الناس په طاء مهمله سره مروی ده. چه د هغے معنی ده خلقو لره حقیر گنړل او دصحیح مسلم په ټولو نسخو کښې دا لفظ هم دغه شان دے او ابوداؤد هم دے لره په دے شان نقل کړے دے لیکن ترمذی غمص په صاد مهمله سره نقل کړے دے. او معنی ددغے هم داده

[1] امام نووی وائی دد ے په تاویل کښې د عالمانو اختلاف دے خطابی دد ے دوه وجے بیان کړے دی. یوه دا چه مراد هغه سړے دے چه هغه په ایمان راوړو کښې دومره لږ غوندے هم غرور اوکړی او ایمان رانوړی نو هغه به هیڅ کله جنت ته نشی تللے هر کله چه په دغه حالت کښې مړ شی. دویمه دا چه هر کله خلق جنت ته خی نو د هغوی په زړونو کښې به د اُوری ددانے په مقدار غرور هم نهٔ وی خکه چه خدائے پاک فرمایلی دی: مونږ ویستلو د جنتیانو د زړونو نه چه کوم غم وو په هغوی کښې. او دا دواړه تاویلو نه لرے دی خکه چه حدیث راغلے دے د کبر په ممانعت کښې خلقو لره دد ے بد ے خبرے نه د بچ کولو دپاره. او دد ے دواړو تاویلونو په وجه هغه مطلب وت کیږی نو ظاهر هغه دے کوم چه قاضی عیاض او محققینو اختیار کړےدی یعنی مطلب دادے چه هغه به جنت ته نهٔ خی د کومے پورې چه هغهٔ ته د کبر بدله ملاو شوے نهٔ وی یا کهٔ هغه ته بدله ملاو شی نو دا بدله ده چه هغه به جنت ته لاړ نهٔ شی او بعضو ویلی دی چه هغه به د پرهیز گارانو سره په اول خل جنت ته نهٔ خی.

بَاب مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ مَاتَ مُشْرِكًا دَخَلَ النَّارَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ وَكِيعٌ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَقُلْتُ أَنَا وَمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا الْمُوجِبَتَانِ فَقَالَ مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ

باب: کوم سړے چه د شرک نه پاک وی او مړ شی. نو هغه به جنت ته ځی او څوک چه د شرک په حالت کښې مړ شی هغه به جهنم ته ځی

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی او په یو روایت کښې دی ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایلی ئې وو. چه کوم سړے مړ شی او هغه د الله پاک سره څوک شریک ګرځولے وی هغه به جهنم ته ځی. عبد الله بن مسعودؓ وائی زهٔ وایم چه کوم سړے مړ شی او هغه د الله پاک سره شریک نهٔ وی جوړ کړے. هغه به جنت ته داخلیږی[1].

د جابرؓ نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ له راغے او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله! هغه دوه خبرے کومے دی چه په هغے سره جنت او جهنم واجبیږی؟ حضورؐ ورته اوفرمایل چه کوم بنده مړ شو او هغه د الله پاک سره شریک ګرځولے نهٔ وونو هغه بهٔ جنت ته ځی. او کوم بنده چه مړ شی او هغه د الله پاک سره شریک ګرځولے وی هغه به جهنم ته غورځولے کیږی[2].

---

[1] دغه شان دی د صحیح مسلم په اکثر نسخو کښې او په صحیح بخاری کښې او قاضی عیاض هم داسے نقل کړے دے. او په بعضو نسخو کښې ددے برعکس دے. یعنی رومبۍ جملے لره ابن مسعود کلام نقل کړے دے. او دویمے لره ئې د رسول الله ﷺ. او حمیدیؒ په کتاب الجمع بَین الصّحیحین کښې دغه شان نقل کړے دے او ابوعوانه هم په دے شان روایت کړے دے. او دا دواړه جملے مرفوعًا د جابر نه ثابتے دی. بیا ابن مسعود چه یوه جمله ئې د حضرت طرفنه یوه جمله اوریدلی وی او دویمه جمله د قرآن او حدیث نه هغوی پخپله ویستلی وی. مګر په دے کښې دا خرابی وی چه ابن مسعودؓ چه په کوم دویم روایت کښې دواړه جملے د حضرت ﷺ نه نقل کړے نو شاید چه ابن مسعود ته ددے روایت کولو په وخت یوه جمله یاده وی. خکه هغوی خپل طرفته نسبت ورکړو. والله اعلم

[2] امام نوویؒ ویلی دی چه په دے باندے اجماع ده د مسلمانانو. لیکن د مشرک جهنم ته تلل هغه عمومًا دی. هغه به جهنم ته ځی. او همیشه به په هغے کښې وی. او د یهودی، نصرانی، بت پرستو د هر قسم کافرانو دغه حکم دے. په دے کښې څهٔ فرق نشته دے. یعنی هغه به همیشه په جهنم کښې وی. دغه شان چه کوم کافر وی په عناد سره یا مخالف وی د ملت اسلام. یا چه کوم اسلام طرفته نسبت

عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ لَقِيَ اللهَ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ لَقِيَهُ يُشْرِكُ بِهِ دَخَلَ النَّارَ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلې ئې وو کوم بنده چه د الله سره ملاویږی. او د هغه سره ئې څوک شریک کړے نه وی. هغه به جنت ته ځی. او څوک چه ورسره ملاو شی او د هغه سره ئې شریک پیدا کړے وی هغه به جهنم ته ځی.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَبَشَّرَنِي أَنَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ

د ابوذر غفاری نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه حضرت جبرئیل ما ته راغے او ما ته ئې خوشخبری راکړه. چه کوم سړے ستا د امت نه مړ کیږی. او هغه چا لره د الله سره شریک نهٔ کړی نو هغه به جنت ته داخلیږی. ما اووے اګر چه هغه زنا اوکړی یا غلا اوکړی؟ هغوی اووے اګر چه هغه زنا اوکړی یا غلا اوکړی[1].

عَنْ أَبُو ذَرٍّ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَائِمٌ عَلَيْهِ ثَوْبٌ أَبْيَضُ ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَإِذَا هُوَ نَائِمٌ ثُمَّ أَتَيْتُهُ وَقَدِ اسْتَيْقَظَ فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى

د ابوذر نه روایت دے. زهٔ د رسول الله ﷺ خواله راغلم او هغه اودهٔ وو. او یوه سپینه کپړه ئې اغوستے وه بیا زهٔ راغلم نو هغوی اودهٔ وو بیا زهٔ راغلم نو هغوی راویخ شوے وو زهٔ د هغهٔ سره کیناستم هغوی اوفرمایل څوک چه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووائی او بیا مړ شی په دغه اعتقاد باندے بادنے (یعنی د الله په توحید) نو هغه به جنت ته ځی ما اُووے اګر کهٔ غلا او زنا ئې کړے وی؟ درے ځله ئې دسے

لری یعنی مسلمان ورته ویلے شی بیا حکم اوشی په هغه د کفر د څهٔ امر په انکار سره او کوم چه مشرک نهٔ وی مؤحد وی د هغهٔ جنت ته تلل هم یقینی دی بیا چه د هغهٔ نه په کبیره ګناه باندے اصرار چرته او نهٔ شو نو هغه به په رومبی: دله کښ جنت ته بوخی او د چا نه چه په کبیره ګناه باندے اصرار شوے دے هغه د خدائے مرضی ده کهٔ غواړی معاف به ئې کړی او جنت ته به ئې بوخی او کهٔ الله پاک جل شانه غواړی نو دے به څو ورځے د دغه په بدله کښ په عذاب کړی نو ددے نه پس به ئې بیا په جنت کښ داخل کړی لیکن هغه به همیشه همیشه په جهنم کښ نهٔ وی

[1] نووی وائی دا حدیث د اهل سنتو د مذهب دلیل دے چه کبیره ګناه کونکے به همیشه په جهنم کښ نهٔ وی پاتے بلکه جهنم ته به یا خو به بالکل نهٔ ځی او کهٔ لاړ شی نو څو ورځے پس به بیا د هغه ځائے نه جنت ته راوستے شی او پورته ددے بیان مفصل تیر شوے دے انتهی زنا او غلا لره ئې ددے وجے نه خاص کړه چه دا دواړه لوئے ګناهونه دی او زنا حق د الله دی او غلا حق د بندیګانو نو معلومه شوه چه کوم سړے موحد وی او په هغه ګناه کښ مبتلا وی کوم چه حقوق العباد وی بیا به هم هغه په جهنم کښ همیشه نه پاتے کیږی بلکه ګنه نه ګنه به د هغه ځائے نه را اوځی او په جنت کښ به داخل شی

وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ فِي الرَّابِعَةِ عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِي ذَرٍّ قَالَ فَخَرَجَ أَبُو ذَرٍّ وَهُوَ يَقُولُ وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي ذَرٍّ

اوفرمایل په څلورم ځل هغه اوفرمایل اګر چه د ابو ذر په پوزه کښې خاوره اولګی بیا را اووتو ابوذر او هغهٔ ویل اګر چه د ابوذر په پوزه کښې خاوره اولګی[1]

بَابُ تَحْرِيمِ قَتْلِ الْكَافِرِ بَعْدَ أَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ

باب : کافر لره د لَاَ اِلٰهَ اِلَّا الله نه پس قتل کول حرام دی

عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ فَقَاتَلَنِي فَضَرَبَ إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فَقَطَعَهَا ثُمَّ لَاذَ مِنِّي بِشَجَرَةٍ فَقَالَ أَسْلَمْتُ لِلّٰهِ أَفَأَقْتُلُهُ يَا رَسُولَ اللهِ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ قَدْ قَطَعَ يَدِي ثُمَّ قَالَ ذٰلِكَ بَعْدَ أَنْ قَطَعَهَا أَفَأَقْتُلُهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ

د مقداد بن اسود نه روایت دے هغوی اووے یا رسول الله ﷺ کهٔ چرے زهٔ د یو کافر سره او نخلم او هغه خما سره جنګ کوی او هغه خما یو لاس په توره سره کټ کړی او بیا خما نه بچ شی او په یوه اونه کښې پناه واخلی او اووائی چه زهٔ تابع شوم د الله تعالی یا رسول الله ، زهٔ قتل کرم دهٔ لره ورستو ددے وینا نه رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل مهٔ قتلوه دهٔ لره ما اووے یا رسول الله دهٔ خما لاس کټکړو بیائے داسے اووے نو زهٔ دے قتل کرم؟ رسول الله ﷺ اوفرمایل ، مهٔ قتلوه ده لره ، اګر چه تا ته ددهٔ صدمه اورسیده او زخمی شوے ، کهٔ چرے تا دهٔ لره قتل کړے وے نو ددهٔ حال به ستا په شان وی د قتل نه مخکښې او ستا حال به ددهٔ په شان وو د هغه وخته پورے چه کله دا کلمه ویلے نهٔ وے[2]

[1] یعنی د ابوذر ذلت وی خکه چه دا امر د هغهٔ د مرضی نه خلاف وو هغه د ګناهونو نه ډیر نفرت کولو او ګنهګارو لره ئے د الله د رحمت نه لرے ګڼرل او دا امر د هغوی د بار بار تپوسونو نه معلوم شو چه د زنا او غلا کولو سره هم هغه جنت ته تلے شی لکه هغه به دے ډیر حیران شو چه د دومره لویو لویو ګناهونو باوجود به دے جنت ته بوتلے شی یعنی کوم لفظ چه حضرت ﷺ فرمایلے وو هغه ئے وے او روان وو او دا ډیر محبت وو د ابوذر د محمد رسول الله ﷺ سره

[2] ظاهر د حدیث مفهوم دادے چه کهٔ چرے ته دهٔ لره قتل کړے نو هغه به ستا په مثل شی یعنی هغه به مسلمان شی او ته به د هغهٔ په شان شے لکه څنګه چه دے د اسلام د قبلولو نه وړاندے یعنی کافر وو په دے کښې دا اشکال دے چه مسلمان جهاد کونکے د دغه کار سره نهٔ شی کافر کیدے خصوصاً په هغه صورت کښې هر کله چه دهٔ ته احتمال وی چه دا د زړهٔ نه مسلمان شوے نهٔ دے بلکه د ځان د بچ کولو د پاره بهانه کوی او دهٔ مسلمان لره زخمی کړے هم وی امام نووی فرمایلی دی ددے حدیث په مطلب کښې د عالمانو

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ أَمَّا الْأَوْزَاعِيُّ وَابْنُ جُرَيْجٍ فَفِي حَدِيثِهِمَا قَالَ أَسْلَمْتُ لِلّٰهِ كَمَا قَالَ اللَّيْثُ فِي حَدِيثِهِ وَأَمَّا مَعْمَرٌ فَفِي حَدِيثِهِ فَلَمَّا أَهْوَيْتُ لِأَقْتُلَهُ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ

دویم روایت هم دغه شان دے. په هغے کښې داسے دی. چه هغه اسلام روارړے دے. د الله دپاره. او د معمر په روایت کښې دی. چه هر کله زهٔ تیار شم ددهٔ د قتل دپاره. نو دے وائی چه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ.

عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْأَسْوَدِ الْكِنْدِيِّ وَكَانَ حَلِيفًا لِبَنِي زُهْرَةَ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ

د مقداد بن عمر بن اسود کندی نه روایت دے. هغه د بنی زهره حلیف وو (یعنی د هغوی امان کښې راغلے وو. او د هغوی سره ئے وعده کړے وه) او د بدر په جنګ کښې د رسول الله ﷺ سره وو. هغوی اووے یا رسول الله ﷺ ته به ئے څنګه ګڼړے چه کهٔ چرے زهٔ اوجنګیږم د یو کافر سره او بیائے بیان کړو حدیث لره په مثل د حدیث د لیث لکه چه وړاندے تیر شو.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ وَهٰذَا حَدِيثُ ابْنِ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَصَبَّحْنَا الْحُرَقَاتِ مِنْ جُهَيْنَةَ فَأَدْرَكْتُ رَجُلًا

د أسامه بن زید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ په یوه سریّه کښې اولیږلو (سریّه وائی د لښکر یوے ټکړے ته چه په هغے کښې د څلورو سوؤ سرو پورے وی) مونږ سحر له جنګ اوکړو د حُرقات سره چه د جهینو نه ده (حُرقات بضم حا او فتح را یوه قبیله ده) بیا ما

اختلاف دے. د تولو نه ښهٔ معنی داده کومه چه د شافعی او ابن قصار نه منقول دے. چه هر کله د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ اووے. او اسلام ئے قبول کړو نو هغه ستا په شان شو. یعنی د خان په حُرمت او حفاظت کښې څنګه چه ته وے ددهٔ د قتل نه وړاندے. و تا چه هر کله دهٔ لره قتل کړو نو ته ددهٔ په شان شوې یعنی ستا د خان حُرمت پاتې نهٔ شو او ستا وینه توبه ول حلال شو لکه څنګه چه ددهٔ حال وو د اسلام د راوړلو نه مخکښې. قاضی عیاض ویلی دی. چه ددے معنی داده. چه تهٔ د هغهٔ په شان شوے د حق په مخالفت کښې او د ګناه په ارتکاب کښې اګر چه ستا په مخالفت او ګناه او د هغهٔ په مخالفت کښې فرق دے. د هغهٔ ګناه د کفر پورے رسیدلے وه او ستا ګناه به د فسق پورے رسی بیا علماؤ اختلاف کړے دے. چه کهٔ چرے یو مسلمان په جهاد کښې داسے اوکړی. یعنی یو کافر د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ویلو نه پس مر کړی. نو ددهٔ څهٔ حکم دے. بعضو ویلی دی چه پهٔ دهٔ باندے څهٔ نشته نهٔ قصاص نهٔ دیت ، نهٔ کفاره . څکه چه مخکښې به په حدیث کښې راشی. چه أسامه رضی الله عنه دا فعل کړے وو. بیا رسول الله ﷺ نهٔ هغه قتل کړو. او نهٔ دیت نهٔ کفاره ئے په هغهٔ باندے واجب کړه. او د بعضو په نزد کفاره واجب ده. لیکن قصاص ساقط دے په وجه د شک ولے چه هغه ئے کافر اوګڼړو او مړ ئے کړو. او دا خیال ئے اوکړو چه هغه د کلمهٔ توحید په لوستو سره مسلمان کیدے نهٔ شی. په داسے حالت کښې او د دیت په واجب کیدو کښې د امام شافعی دوه قولونه دی. بیا دا خلق د أسامه رضی الله عنه د حدیث جواب ورکوی . کفاره واجب نهٔ ده او دیت هم په دے وجه نهٔ واخستے شوے چه أسامه مفلس وو.

فَقَالَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ فَطَعَنْتُهُ فَوَقَعَ فِي نَفْسِي مِنْ ذٰلِكَ فَذَكَرْتُهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَالَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَقَتَلْتَهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّمَا قَالَهَا خَوْفًا مِنَ السِّلاَحِ قَالَ أَفَلاَ شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ حَتّٰى تَعْلَمَ أَقَالَهَا أَمْ لاَ فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا عَلَيَّ حَتّٰى تَمَنَّيْتُ أَنِّي أَسْلَمْتُ يَوْمَئِذٍ قَالَ فَقَالَ سَعْدٌ وَأَنَا وَاللهِ لاَ أَقْتُلُ مُسْلِمًا حَتّٰى يَقْتُلَهُ ذُو الْبُطَيْنِ يَعْنِي أُسَامَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ أَلَمْ يَقُلِ اللهُ وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لاَ تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهُ لِلّٰهِ فَقَالَ سَعْدٌ قَدْ قَاتَلْنَا حَتّٰى لاَ تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَأَنْتَ وَأَصْحَابُكَ تُرِيْدُوْنَ أَنْ تُقَاتِلُوْا حَتّٰى تَكُوْنَ فِتْنَةٌ

یو سړے اوموندو چه هغه لاَ اِلٰهَ اِلاَّ الله اووے. او ما په نیزه سره اووژلو. ددے نه پس خما په زړهٔ کښې وهم شو (چه دا لاَ اِلٰه الاَّ الله وینا سره ددهٔ وژل صحیح نهٔ وو) نو ما رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو. نو رسول الله اوفرمایل چه هغهٔ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ الله ویلی وو او هغه تا اووژلو. ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! هغه د وسلے د یرے نه ویلی وو. هغوی اوفرمایل. ولے تا د هغهٔ زړهٔ سیرلے او کتلے وو. چه تا ته معلومه شوه چه دهٔ په زړهٔ سره دا کلمه نهٔ وه ویلی (مطلب دادے چه تاته د کوم ځائے نه معلومه شوه) بیا هغوی باربار دا اوفرمایل تردے پورے چه ما دا آرزو اوکړه چه کاش زهٔ په دغه نن ورځ باندے مسلمان شوے وے (نو د اسلام راوړو نه پس به په داسے گناه کښې اخته شوے نهٔ وم ولے چه د اسلام په راوړلو سره د کفر رومبنی گناهونه معاف کیږی. سعد بن ابی وقاص اووے قسم په خدائے چه زهٔ به چا مسلمان لره نهٔ وژنم دهغے پورے چه هغه لره ذوالبطین یعنی أسامه اُونهٔ وژنی (ذوالبطین تصغیر دے د بطن او بطن خیټے ته وائی . اسامهؓ ته ذوالبطین ځکه وائی چه د هغهٔ گیډه لویه وه) یو سړی اووے الله تعالی فرمائی جنگ کوئ د هغوی سره د کومے پورے چه فساد پاتے نهٔ شی. او دین ټول د اللهؓ دپاره شی. سعدؓ اووے مونږ خو جنگ کوو (د کافرانو سره) ددے دپاره چه فساد پاتے نهٔ شی. او تهٔ او ستا رور ددے دپاره جنگ کوی چه فساد پیدا شی[1].

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ يُحَدِّثُ

د أسامه بن زیدؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ د حرقے په طرف

[1] الله فرمایلی دی په سورة انفال کښې چه جنگ کوئ د کافرانو سره تردے پورے چه فساد پاتے نهٔ شی. یعنی د هوغی زور ختم شی. او هغه په ایمان کښې خلل نهٔ شي غورځولے. او شی ټول دین د الله. ددے سړی مطلب ددے آیت د لوستو نه دا وو چه مسلمان هم کهٔ چرے فساد کوی نو د هغو سره جنگ کول جائز دی. سعدؓ په دهٔ باندے الزام اولګوو. چه دا خو نور فساد زیاتول دی. په خپلو کښې جنګ کول او زمونږ جنگونه د فساد د ختمولو دپاره وی.

قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْحُرَقَةِ مِنْ جُهَيْنَةَ فَصَبَّحْنَا الْقَوْمَ فَهَزَمْنَاهُمْ وَلَحِقْتُ أَنَا وَرَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ رَجُلًا مِنْهُمْ فَلَمَّا غَشِينَاهُ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَكَفَّ عَنْهُ الْأَنْصَارِيُّ وَطَعَنْتُهُ بِرُمْحِي حَتَّى قَتَلْتُهُ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا بَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي يَا أُسَامَةُ أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا كَانَ مُتَعَوِّذًا قَالَ فَقَالَ أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ قَالَ فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا عَلَيَّ حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ أَسْلَمْتُ قَبْلَ ذَلِكَ الْيَوْمِ

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ أَنَّهُ حَدَّثَ أَنَّ جُنْدَبَ بْنَ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيَّ بَعَثَ إِلَى عَسْعَسِ بْنِ سَلَامَةَ زَمَنَ فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَقَالَ اجْمَعْ لِي نَفَرًا مِنْ إِخْوَانِكَ حَتَّى أُحَدِّثَهُمْ فَبَعَثَ رَسُولًا إِلَيْهِمْ فَلَمَّا اجْتَمَعُوا جَاءَ جُنْدَبٌ وَعَلَيْهِ بُرْنُسٌ أَصْفَرُ فَقَالَ تَحَدَّثُوا بِمَا كُنْتُمْ تَحَدَّثُونَ بِهِ حَتَّى دَارَ الْحَدِيثُ فَلَمَّا دَارَ الْحَدِيثُ إِلَيْهِ حَسَرَ الْبُرْنُسَ

اوليږلو چه هغه يوه قبيله ده د جهينو نه بيا مونږ سحر هلته اورسيدو. او هغوی له مونږ شکست ورکړو ما او يو انصاري سړی په دوه تنه يو سړے اونيوو هر کله چه هغه مونږ راګير کړو نو هغهٔ لَاَ اِلٰهَ اِلَّا الله وينا شروع کړه. انصاري چه دا واوريدل نو د هغهٔ نه واپس شو. او ما هغه وهلو ترد ے پورے چه مړ شو. هر کله چه مونږ واپس راغلو نو دا خبر رسول الله ﷺ ته اورسيدو (او په ورمبی روايت کښ دی چه اُسامه ورته پخپله ذکر اوکړو. او شايد چه هغه ته وړاندے هم خبر رسيدلے وو. او بيا اُسامهؓ ورته هم ذکر اوکړو) په دغه وخت رسول الله ﷺ اوفرمايل چه اے اُسامهؓ تا هغه اووژلو د لَاَ اِلٰهَ اِلَّا الله د ويلو نه پس. ما اووے يا رسول الله هغه د خپل ځان بچ کولو دپاره کلمه ويلے وه. حضرت ﷺ اوفرمايل تا هغه اووژلو د لَاَ اِلٰهَ اِلَّا الله د ويلو نه پس بيا هغهؑ بار بار دا وينا فرمايله ترد ے چه ما دا آرزو اوکړه چه کاش زهٔ مسلمان شوے نهٔ وے دد ے ورځے نه وړاند ے (نو دد ے قتل کولو ګناه په ما باند ے به نهٔ وه د مسلمانيدو نه پس)

د صفوان بن محرز نه روايت د ے چه جندب بن عبدالله بجلیؓ عسعس بن سلامه ته وينا کونکے اوليږلو هر کله چه د عبد الله بن زبيرؓ فتنه اوشوه چه تهٔ جمع کړه خما دپاره خپلو څو رونړو لره دد ے دپاره چه زهٔ د هغوی سره خبر ے اوکړم. عسعس خلقو ته قاصد اوليږلو او هغه راجمع شول نو جندبؓ راغے او يوه زيړه ټوپۍ ئے په سر وه (په صراح کښ دی برنس هغه ټوپۍ ده چه هغے لره به خلقو په شوع د زمانهٔ اسلام کښ پسَروله او راوی وائی چه برنس هغه کپړه ده چه د هغے سَر په هغے کښ لګيدلے وی کُرته يا جُبّه جوهري وائی چه برنس يوه اوږده ټوپۍ وه. چه هغے لره به خلقو د اسلام په شروع کښ پسَروله

عَنْ رَأْسِهِ فَقَالَ إِنِّي أَتَيْتُكُمْ وَلاَ أُرِيدُ أَنْ أُخْبِرَكُمْ عَنْ نَبِيِّكُمْ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى قَوْمٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَإِنَّهُمُ الْتَقَوْا فَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِذَا شَاءَ أَنْ يَقْصِدَ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَصَدَ لَهُ فَقَتَلَهُ وَإِنَّ رَجُلاً مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَصَدَ غَفْلَتَهُ قَالَ وَكُنَّا نُحَدَّثُ أَنَّهُ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَلَمَّا رَفَعَ عَلَيْهِ السَّيْفَ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ فَقَتَلَهُ فَجَاءَ الْبَشِيرُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ حَتَّى أَخْبَرَهُ خَبَرَ الرَّجُلِ كَيْفَ صَنَعَ فَدَعَاهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ لِمَ قَتَلْتَهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَوْجَعَ فِي الْمُسْلِمِينَ وَقَتَلَ فُلاَنًا وَفُلاَنًا وَسَمَّى لَهُ نَفَرًا وَإِنِّي حَمَلْتُ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَأَى السَّيْفَ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَتَلْتَهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اسْتَغْفِرْ لِي قَالَ وَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ فَجَعَلَ لاَ

هغوی اووے نه خبرے کوه کومے چه کوے ترڅے پورے چه د جندبؓ وار راغے (یعنی هغه ته خبره ضرور کول پریوته ، نو هغوی توپی د خپل سَر نه لرے کړه او اووے ویل چه زهٔ ستاسو خواله راغلم په دے اراده سره چه بیان کړم تاسو ته حدیث ستاسو د پیغمبرؐ هغه دا چه رسول اللهﷺ د مسلمانانو یو لښکر د مشرکانو په یو قوم باندے اولیږلو هغه دواړه لښکرے ملاو شوے (یعنی په میدانِ جنګ کښ یو بل ته مخامخ شولے، نو په مشرکانو کښ یو سړے وو هغه چه به په کوم مسلمان باندے غوښتهٔ حمله به نے کوله او هغه به نے وژلو آخر یو مسلمان هغهٔ لره مړ کړو او خلقو مونږ ته اووے چه هغه مسلمان اسامه بن زیدؓ وو هرکله چه هغه توره په هغه باندے راواړوله نو هغه اووے لَا اِلٰهَ اِلَّا الله لیکن هغوی قتل کړو دے نه پس د هغه قاصد خوشخبری راوړه او رسول اللهﷺ له راغے حضرت د هغهٔ نه د حال تپوس اوکړو هغهٔ ورته ټول حال بیان کړو تر دے پورے چه د هغه سړی حال نے ورته هم اووے (یعنی د أسامه بن زید) حضرتﷺ أسامهؓ را اوغوښتو او تپوس نے ترے اوکړو چه تا ولے دا سړے مړ کړو أسامهؓ اووے یا رسول اللهﷺ هغه ډیر تکلیف ورکړو مسلمانانو لره نو وژلے نے دے فلانے او فلانے او د څو سړو نوم نے واخستو بیا زهٔ په دهٔ باندے غالب شوم هرکله چه هغه تورے ته اوکتل نو لَا اِلٰهَ اِلَّا الله نے اووے رسول اللهﷺ ورته اوفرمایل چه تا هغه قتل کړو هغوی اووے آو حضرتﷺ اوفرمایل چه څهٔ جواب به ورکوے؟ هرکله چه هغه راشی په ورځے د قیامت باندے د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله سره هغوی اووے یا رسول اللهؐ خما دپاره د مغفر دُعا اوکړه هغوی اوفرمایل چه ته به څهٔ جواب ورکوے د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله باندے

يَزِيدُهُ عَلَى أَنْ يَقُولَ كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

بیا حضرت دد ے نه زیات څهٔ او نهٔ وے. او دا به ئے وے چه ته به څهٔ جواب ورکوے د قیامت په ورځ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ باندے هر کله چه هغه به راوستے شی د قیامت په ورځ[1]

بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا

باب: د نبی کریم ﷺ قول یعنی فرمان دے چه کوم بنده په مسلمانانو پسے وسله اوچته کړی هغه مسلمان نهٔ دے

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی کوم سړے چه په مونږ باندے وسله اوچته کړی هغه زمونږ نه نهٔ دے[2].

عَنْ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَلَّ عَلَيْنَا السَّيْفَ فَلَيْسَ مِنَّا

د سلمه بن اکوع ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه په مونږ پسے توره اوباسی هغه زمونږ نه نهٔ دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابو موسیٰ ؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی څوک چه

---

[1] په حدیث کښې داسے دے وَلَا أُرِيدُ أَنْ أُخْبِرَكُمْ عَنْ نَبِيِّكُمْ چه دد ے لفظی ترجمه داده چه خما اراده نهٔ وه تاسو ته د بیانولو ستاسو د پیغمبر ﷺ د احادیثو او دا جوړیږی. نووی وائی په ټولو نسخو کښې دا عبارت په دے شان دے او ما هُم د کومے پورے نسخے چه خما سره موجود وے په دے کښې دا اوموندہ. په نسخه مطبوعه مصر او مطبوعه د هلی او کلکته په ټولو کښې په دغه شان دے خو د مطبوعه کلکته په حاشیه کښې داسے لیکلی دی چه په بعضے نسخو کښې د الَّا لفظ د پاسه لیکلے شوے دے. یعنی داسے دے وَلَا أُرِيدُ أَنْ أُخْبِرَكُمْ عَنْ نَبِيِّكُمْ په دے صورت کښې خو مطلب صفا دے. یعنی خما اراده څهٔ نهٔ وه. سوا دد ے نه چه حدیث بیان کړم تاسو ته ستاسو د پیغمبر ﷺ او د امام نووی د کلام نه دا معلومیږی. چه په یوه نسخه کښې د اِلَّا لفظ نشته دے. نو شاید مراد د هغوی هغه نسخے چه هغه ته په دمشق کښې په لاس راغلی وے. امام نووی وائی دلته دا اشکال کیدے شی. چه جندب په خپله عسعس ته قاصد لیږلے وی. چه ته خلقو لره را جمع کړه زهٔ هغوی ته حدیث بیانوم بیا چه هر کله راغے نو پخپله ئے څنګه اووے. چه خما اراده د حدیث د بیانولو نه وه. او دد ے رفع په دوه قسمه سره کیدے شی. یو خو دا چه د لا لفظ زیاتی وی. په دے صورت کښې به ترجمه هغه شی. کومه چه پورته ذکر شوه. یعنی زهٔ ستاسو خواله راغلم په دے اراده سره چه بیان کړم تاسو ته حدیث ستاسو د پیغمبر ﷺ او مطلب به صفا شی. لکه چه په قران کښې د لا لفظ لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتَابِ وَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ کښې سوا دے. دویمه دا چه کهٔ د لا لفظ سوا نهٔ وی لو مطلب دا وی. چه زهٔ تاسو ته راغلم او خما اراده د حدیث بیانولو نه وه. بلکه د خپل طرفنه د خبرو کول. خو زهٔ اوس د خپلے ارادے نه بغیر حدیث هم بیانوم او وایم چه رسول الله ﷺ یو لښکر اولیږلو د آخر پورے په خیر جاری کښې دی چه شاند د لا نه وړمبے همزه د استفهام محذوف وی یعنی زهٔ تاسو ته راغلم او دا کیدے شی چه خما اراده د حدیث د بیانولو نه وی (یعنی خما اراده ده) والله اعلم

[2] امام نووی رحمة الله علیه وائی چه کوم سړے په مسلمانانو پسے وسله راواخلی په ناحقه سره بغیر د څهٔ قسم تاویل نه خو دا فعل حلال نهٔ ګنړی نو هغه به ګنهګار وی کافر به نهٔ وی. او څوک چه ئے حلال اوګنړی هغه کافر دے. او دا حدیث محمول دے په حلال ګنړلو والا باندے. یا مراد دا دے چه هغه زمونږ په ښهٔ طریقے باندے نهٔ دے. انتهی

قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا

په مونږ پسے وسله را واخلی هغه زمونږ نه نۀ دے.

بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا

باب: کوم سړے چه مسلمانانو ته دهوکه ورکوی هغه زمونږ نه نۀ دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه په مونږ باندے وسله اوچته کړی هغه زمونږ نه نۀ دے. او کوم سړے چه مونږ له دهوکه راکوی هغه زمونږ نه نۀ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ مَا هٰذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په لاره کښې یو ډیرے د غلے اولیدو. نو هغوی خپل لاس په هغے کښې دننه کړو. نو په ګوتو پورے نے لوند والے راغے. نو هغوی تپوس اوکړو. د غلے مالکه دا څۀ دی؟ هغۀ اووے اوبۀ پریوتلے وے یا رسول الله ﷺ. نو هغوی اوفرمایل بیا تا دا لونده غله دپاسه کړے ولے نۀ ده چه خلقو لیدلے. کوم سړے چه تګی کوی دهوکه ورکوی. د هغۀ څما سره څۀ تعلق نشته

بَاب تَحْرِيمِ ضَرْبِ الْخُدُودِ وَشَقِّ الْجُيُوبِ وَالدُّعَاءِ بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ

باب: مخ وهل، ګریوان شلول، او د جاهلیت په شان خبرے کول، حرام دی

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ أَوْ شَقَّ الْجُيُوبَ أَوْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ هٰذَا حَدِيثُ يَحْيَى وَأَمَّا ابْنُ نُمَيْرٍ وَأَبُو بَكْرٍ فَقَالَا وَشَقَّ وَدَعَا بِغَيْرِ أَلِفٍ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمایل. چه زمونږ نه نۀ دے هغه څوک چه مخ وهی، او ګریوان شکوی یا د جاهلیت (کفر) د زمانے خبرے کوی. او په بل روایت د اَو په بدله کښې وَ دے[1].

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى قَالَ وَجِعَ

د ابو برده بن موسیٰ ؓ نه روایت دے چه ابو موسیٰ اشعری ناجوړه

[1] یعنی کوم بنده چه مخ وهی او ګریوان شلوی. او د جاهلیت غوندے خبرے کوی (یعنی د مصیبت په وخت کښې) زمونږ په شریعت کښې دا تول کارونه حرام دی إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ویل پکار دی. او صبر کول پکار دی. که چرے اوښکے بے اختیاره لاړے شی نو څۀ بدوالے نشته

أَبُو مُوسَى وَجَعًا فَغُشِيَ عَلَيْهِ وَرَأْسُهُ فِي حَجْرِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِهِ فَصَاحَتْ امْرَأَةٌ مِنْ أَهْلِهِ فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهَا شَيْئًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ أَنَا بَرِيءٌ مِمَّا بَرِئَ مِنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرِئَ مِنَ الصَّالِقَةِ وَالْحَالِقَةِ وَالشَّاقَّةِ

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ وَأَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى قَالَا أُغْمِيَ عَلَى أَبِي مُوسَى وَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ أُمُّ عَبْدِ اللَّهِ تَصِيحُ بِرَنَّةٍ قَالَا ثُمَّ أَفَاقَ قَالَ أَلَمْ تَعْلَمِي وَكَانَ يُحَدِّثُهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ حَلَقَ وَسَلَقَ وَخَرَقَ

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ عِيَاضٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ لَيْسَ مِنَّا وَلَمْ يَقُلْ بَرِيءٌ

بَاب بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيمِ النَّمِيمَةِ

شو. په هغهٔ باندے بے هوشي راغله د هغهٔ سر د يو ښځے په غيږ کښ پروت وو د کور د خلقو نه د هغهٔ د کور والو نه يوے ښځے چغے کړے په ابو موسیٰ کښ د هغے د منع کولو طاقت نهٔ وو هر کله چه په هوش کښ راغے نو اوئے وے زهٔ بے زاره يم د هغه چا نه چه د هغو نه رسول الله ﷺ بے زاره دے هغه بے زاره شوے دے د چغو وهونکو والو نه (يعنی کومه ښځه چه په مصيبت کښ په چغو چغو ژاړی) او دويختو ويستونکو والو نه (يعنی کومه ښځه چه په غم کښ د سر ويختهٔ اوباسی) او د کپړو شلونکو والو نه[1]

د عبدالرحمٰن بن يزيد او ابی بُرده نه روايت دے چه ابو موسیٰ اشعریؓ بے هوشه شو نو ښځه ددهٔ د عبدالله مور په ژړا په چغو راغله بيا هغه په هوش کښ راغے نو اوے ويل ولے تهٔ نهٔ ئے خبر او حديث ئے ورته بيان کړو چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی چه زهٔ بے زاره يم د هغه چا نه چه هغهٔ د سر ويختهٔ اوباسی او په چغو ژاړی او کپړے څيرے کوی (په مصيبت کښ ولے چه دا ټول د کافرانو خلقو رسمونه دی)

د ابو موسیٰؓ نه دويم روايت هم دغه شان دے په هغے کښ داسے دی زمونږ نه نهٔ دے هغه کس چه دا کار کوی او دائے اونهٔ ويلے چه بيزاره يم

باب: چغل خوری سخت حرام دی

[1] نوويؒ وائي ظاهره او مشهوره معنی دغه ده او قاضي عياضؒ د ابن عربي نه نقل کړے دے چه صالقه مخ شوکونکی ته ويلے کيږی

عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلًا يَنُمُّ الْحَدِيثَ فَقَالَ حُذَيْفَةُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ

حضرت حذیفہؓ تہ خبر اورسیدو چہ فلانی سړے خبرے وړی راوړی (یعنی چغل خوری کوی) ھغوی وانی چہ ما د رسول اللہ ﷺ نہ اوریدلی دی چہ ھغوی فرمایلی وو. چغل خور بہ جنت تہ نہ شی تلے[1]

عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَنْقُلُ الْحَدِيثَ إِلَى الْأَمِيرِ فَكُنَّا جُلُوسًا فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ الْقَوْمُ هٰذَا مِمَّنْ يَنْقُلُ الْحَدِيثَ إِلَى الْأَمِيرِ قَالَ فَجَاءَ حَتّٰى جَلَسَ إِلَيْنَا فَقَالَ حُذَيْفَةُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ

د ھمام بن حارثؒ نہ روایت دے چہ یو سړی د خلقو خبرے حاکم تہ بیانولے یو ځل مونږ پہ مسجد کښں ناست وو خلقو اووے چہ دا سړے حاکم تہ خبرے رسَوی. بیا ھغہ راغے او زمونږ سرہ کیناستو. حُذیفہؓ اووے ما د رسول اللہ ﷺ نہ اوریدلی دی ھغہ فرمائیلی وو جنت تہ بہ نہ شی تلے چغل خور.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا مَعَ حُذَيْفَةَ فِي الْمَسْجِدِ فَجَاءَ رَجُلٌ حَتّٰى جَلَسَ إِلَيْنَا فَقِيلَ

د ھمام بن حارثؒ نہ روایت دے. مونږ پہ جماعت کښں دحُذیفہؓ سرہ ناست وو. پہ دے کښں یو سړے راغے او زمونږ سرہ راغے کیناستو

---

[1] امام نوویؒ وانی چہ د یو خبرہ بل تہ رسول د جنگ او فساد جوړولو دپارہ. دے تہ چغلی ویلے شی امام غزالیؒ پہ احیاء العلوم کښں ویلی دی چہ اکثر چغلی دے تہ ویلی شی چہ د یو خبرہ د بل سرہ لگول یعنی دغہ سړی تہ ویلی چہ فلانی تاتہ داسے ویلی وو او حالانکہ چغلی څہ خاص کار نہ دے بلکہ د ھرے بدے خبرے بیانول چغلی دہ. خواہ پہ دے سرہ ھغہ خبرے کونکی تہ غم وی یا د چا دپارہ چہ اوویلے شی ھغۀ تہ خفگان وی یا بل دریم کس تہ خفگان وی. او دا بیان خواہ کۀ پہ ژبہ سرہ وی یا پہ اشارہ او کنایہ سرہ خو دا ټول پہ چغلی کښں داخل دی نو پہ حقیقت کښں چغلی د راز ښکارہ کول دی او پردہ اوچتول دی چہ ھغہ د چا خوښں نۀ وی بیا کۀ چرے یو سړی اولیدل چہ یو سړی خپلے روپی خخولے او ذکر نے اوکړو د ھغے نورو تہ نو چغلی نے اوکړہ امام غزالیؒ وانی اوس چہ کوم سړی تہ څوک چغلی اوکړی نو د ھغۀ دپارہ شپږ خبرے ضروری دی یوہ خو دا چہ ددۀ خبرہ بہ رښتیا نہ گڼړی ولے چہ چغل خور فاسق دے دویمہ دا چہ ددغہ کار نہ بہ دۀ لرہ منع کوی او بد بہ ورتہ وانی دریمہ دا چہ دغہ سړی تہ بہ بد گوری خکہ چہ ھغہ د اللہ پاک پہ نزد بد دے یعنی چغلی کونکے څلورمہ دا چہ پہ خپل رور د چا چہ دۀ کړے دہ پہ ھغۀ دبد گمانی نہ کوی پنځمہ دا چہ ددغہ خبرے د زیات تجسس نہ کوی او د ھغے تپوس دِ نۀ کوی گنی پخپلہ بہ پہ دغہ گناہ کښں اونخلی د کوم گناہ نہ چھنے چغل خور لرہ منع کولو انتھی امام نوویؒ وانی چہ دا ټول پہ ھغہ صورت کښں دی چہ ھر کلہ پہ ھغے کښں څہ مصلحت شرعی نۀ وی او کۀ چرے ددے پہ ښکارہ کولو کښں څہ مصلحت وی نو منع نہ دے مثلاً څوک د چا د قتل یا د ھغہ د بربادیدو او بے عزتئ ارادہ اولری نو ھغہ تہ خبر ورکول یا امام یا حاکم تہ د چا بندہ فساد یا ظلم بیانول چہ پہ ھغے کښں د نورو خلقو فائدہ وی نو داسے کول حرام نۀ دی بلکہ پہ بعضے صورت کښں واجب دی یا مستحب دی د اردو کتاب مترجم وانی دے خبرے تہ کتل پکار دی چہ ددۀ پہ ښکارہ کولو کښں یا امام یا حاکم تہ پہ ویلو کښں د عامو خلقو نیکئ او منفعت وی نو بیشکہ ویل پکار دی او پہ کومے کښں چہ د چا فائدہ نۀ وی صرف د ھغہ سړی فائدہ نو د ھغے ویل ضروری نہ دی بیا نوویؒ ویلی دی دا چہ نے کوم فرمایلی دی چہ چغل خور بہ جنت تہ نۀ خی نو پہ دے کښں دوہ تاویلونہ دی یوہ سړے دے چہ چغلی حرامہ نۀ گڼړی دویم دا مراد چہ چغل خور بہ د نورو ښو جنتیانو سرہ جنتتہ نۀ خی

لِحُذَيْفَةَ إِنَّ هٰذَا يَرْفَعُ إِلَى السُّلْطَانِ أَشْيَاءَ فَقَالَ حُذَيْفَةُ إِرَادَةَ أَنْ يُسْمِعَهُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ

خلقو حُذیفه ؓ ته اووے چه دے دبادشاه پورے خبره رسوی حذیفه هغه ته د رټلو په نیت سره اووے. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هغه فرمایلی وو. جنت ته به نهٔ شی تلے چغل خور.

بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيمِ إِسْبَالِ الْإِزَارِ وَالْمَنِّ بِالْعَطِيَّةِ وَتَنْفِيقِ السِّلْعَةِ بِالْحَلِفِ وَبَيَانِ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ

باب: لنګ د ګیټونه لاندے دساتلو او زیاتل د احسان، او د مال په دروغه قسم خوړلو سره خرڅولو د سخت حرمت بیان او د هغه دریو سړو بیان چه د هغو سره د قیامت په ورځ الله خبرے نهٔ کوی او نهٔ به ګوری هغوی ته، او نهٔ به پاک دوی لره. بلکه دوی ته به دردناک عذاب وی

عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِرَارًا قَالَ أَبُو ذَرٍّ خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الْمُسْبِلُ وَالْمَنَّانُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ

د ابوذر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ددریو سړو سره به خدائے پاک خبرے نهٔ کوی د قیامت په ورځ او نهٔ به د هغوی طرفته اوګوری (د رحمت په نظر سره) نهٔ به هغه پاک کړی (د ګناهونو نه) او هغوی ته به عذاب درد ناک وی. حضرت ؐ درے ځله دا اوفرمایلی نو ابوذر ؓ اووے. برباد شول هغه خلق او په نقصان کښ پریوتل هغه څوک دی یا رسول الله؟ هغوی اوفرمایل یو خو زوړندونکے د لنګ، دویم چه احسان اوکړی هغه زیاتونکے. دریم په دروغه قسم خوړونکے د خپل مال خرڅولو دپاره[1].

[1] یعنی لنګ، پاجامے لره یا کُرتے لره د ګیټو نه لاندے د غرور او د تکبر په وجه زوړندوی. لکه په دویم حدیث کښ صفا راغلی دی چه الله پاک نهٔ ګوری د هغه سړی په طرف چه هغه خپله کپړه زوړنده کړی دغرور نه او دا د غرور قید خاص کوی د لنګ اچونکی عموم لره. او ددے نه دا خبره وتلے ده. چه دا وعید د هغه چا دپاره دے چه هغه نے د غرور نه زوړنده کړی. او پخپله رسول الله ﷺ رخصت ورکړے دے حضرت ابوبکر لره د کپړے د زوړندولو ولے چه د هغهٔ دا فعل د غرور په وجه سره نهٔ وو. امام محمد بن جریر طبری وائی په دویم روایت کښ حضرت ﷺ صرف د لنګ د زوړندول بیان کړے دے. ځکه چه زیاته جامه د هغه وخت لنګ وو. او د قمیص هم دغه حکم دے. او دا په یو حدیث کښ صفا راغلی دی چه هغې لره ابوداؤد او نسائی او ابن ماجه په سند د حسن سالم نه روایت کړے

عَنْ أَبِي ذَرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَنَّانُ الَّذِي لَا يُعْطِي شَيْئًا إِلَّا مَنَّهُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْفَاجِرِ وَالْمُسْبِلُ إِزَارَهُ

د ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د دریو سړو سره به خدائے پاک د قیامت په ورځ خبرے نۀ کوی. یو احسان یادونکے چه هغه احسان اوکړی او بیائے یادوی. دویم خپل مال چلونکے په دروغه قسم خوړلو سره. دریم لنګ زوړندونکے.

عَنْ سُلَيْمَانَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ

په دے روایت کښې دی چه د دریو سړو سره به خدائے پاک خبرے نۀ کوی. او نۀ به د هغوی طرفته ګوری. او نۀ به هغوی له پاک کړی. او د هغوی دپاره دردناک عذاب دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ شَيْخٌ زَانٍ وَمَلِكٌ كَذَّابٌ وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د دریو سړو سره به خدائے پاک خبرے نۀ کوی د قیامت په ورځ او نۀ به دوی پاک کړے. او نۀ به د دوی طرفته اوګوری. او دوی له دردناک عذاب دے. یو خو بوډا زناکار دے دویم بادشاه دروغجن دے. دریم محتاجه مغرور دے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَهٰذَا حَدِيثُ أَبِي بَكْرٍ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د دریو سړو

دے او هغوی د خپل پلار نه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی زوړندول په لنګ کښې دی او په قمیص کښې او په عمامه کښې دی او څوک چه په دے کښې هر یو له زوړند کړی په غرور سره نو د قیامت په ورځ به خدائی پاک د هغۀ طرفته نۀ ګوری. نووی.

دا چه نے کوم فرمایلی چه احسان اوکړی او د هغے زباتونکے یعنی سپک. متل مشهور دے خدائے دِ د سپک سړی احسان نۀ کړی هر کله چه د چا سره د څۀ قسم سلوک اوکړے یا احسان اوکړے نو تهذیب دادے چه چه د هغے ذکر به نۀ کوے په څۀ غونډه کښې یا جلسه کښې او خپل احسان به په هغۀ باندے نۀ کوے. ګنی نیکی به دِ برباد او ګناه به دِ رباندے لازم شی. او مال په دروغه قسمونو خوړلو سره خرڅول لکه چه د بے ایمانه سوداګرو عادت وی چه د خپل مال خامخا تعریف کوی. اګر کۀ اخستونکی ته د هغے په قیمت کښې یا اخستو کښې ګډ وډ وی خو دے ورته قسم خوری. او اخستونکے په دهوکه کښې راشی وانخلی.

[1] هر خنګه حرام کاری او دروغ د تولو په حق کښې بد دی. لیکن د دے دریو سړو په حق کښې زیات بے موقعے دی چه باوجود د بوډا والی نه کله چه عقل کامل شی او شهوت کم شی زنا او حرام کاری کول سراسر بدبختی ده او باوجود د بادشاهۍ او حکومت هر کله چه نے د چا نه خوف او یره نۀ وی. دروغ ویل بالکل بدبختی ده. او سره د کنګالۍ او محتاجۍ نه غرور کول او بے سامانه فرعون جوړیدل زیات نامناسب دی. قاضی عیاض وائی وجه ددے د تخصیص داده. چه دغه خلقو ته ددغه ګناهونو څۀ احتیاج او ضرورت نشته دے اګر چه په کولو کښې څۀ عذر نشته خو ددغه خلقو خو بیا بالکل څۀ عذر نۀ شی کیدے. نو اوس ګناه لکه قصداً دخدائے نافرمانی کول دی. او ضد دے. او ذلیل ګڼړل دی د الله تعالی جل شانه احکامو له.

قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ رَجُلٌ عَلَى فَضْلِ مَاءٍ بِالْفَلاَةِ يَمْنَعُهُ مِنَ ابْنِ السَّبِيلِ وَرَجُلٌ بَايَعَ رَجُلاً بِسِلْعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ فَحَلَفَ لَهُ بِاللهِ لأَخَذَهَا بِكَذَا وَكَذَا فَصَدَّقَهُ وَهُوَ عَلَى غَيْرِ ذٰلِكَ وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا لاَ يُبَايِعُهُ إِلاَّ لِدُنْيَا فَإِنْ أَعْطَاهُ مِنْهَا وَفَى وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ مِنْهَا لَمْ يَفِ

سره به خدائے خبرے نۀ کوی د قیامت په ورځ او نۀ به هغوی پاک کړی او د ے دپاره د دوی عذاب دردناک. یو خو هغه چه په ځنګل کښې د حاجت نه زیاتے اُوبۀ لری او مسافر لره د هغۀ اُوبو نه منع کړی. او دویم هغه چه هغه د چا په لاس مال خرخ کړو د مازیګر نه پس او په خدائے پاک ئے قسم اوخوړو چه ما په دومره قیمت اخستے دے. او اخستونکے ددۀ خبره رښتیا اوګڼله، حالانکه په دومره ئے نۀ وه اخستے (یعنی په دروغه ئے قسم اوخوړو او د مازیګر نه پس تخصیص په دے وجه سره دے چه هغه متبرک وخت دے د فرښتو د جمع کیدو یا اصل وخت دے د اخستو او خرخولو) دریم هغه چا چه بیعت اوکړو د امام د دنیا په طمعه سره بیا کۀ چرے امام دۀ لره څۀ ورکړو ددنیا مال نو دۀ خپل بیعت پوره کړو او کۀ چرے ورئے نۀ کړو نو پوره ئے نۀ کړو (نو دغه سړی دهوکه ورکړه مسلمان لره د بیعت کولو چه د هغه ددۀ په وعده اعتماد وو او دے ددنیا په فکر کښې اخته وو دوعدے څۀ پرواه ئے نۀ کوله)[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُرَاهُ مَرْفُوعًا قَالَ ثَلاَثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللهُ وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ رَجُلٌ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ بَعْدَ صَلاَةِ الْعَصْرِ عَلَى مَالِ مُسْلِمٍ فَاقْتَطَعَهُ وَبَاقِي حَدِيثِهِ نَحْوُ حَدِيثِ الأَعْمَشِ

دا روایت هم دغه شان دے او په دے کښې داده چه چا قسم اوخوړو د مازیګر دمانځۀ نه پس د چا مسلمان په مال او بیائے مات کړو هغې لره (یعنی د دروغو قسم ئے اوخوړو) باقی حدیث په شان د اعمش د حدیث دے.

بَابُ غِلَظِ تَحْرِيمِ قَتْلِ الإِنْسَانِ نَفْسَهُ وَأَنَّ مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عُذِّبَ بِهِ فِي النَّارِ وَأَنَّهُ

باب: د خودکشئ سنت حُرمت او د خودکشی کونکی عذاب په جهنم کښې او

[1] او کوم خائے چه اُوبۀ نۀ وی چه د مسافر په کار راشی نوویؒ وائی چه دد ے فعل حرمت زیات سخت او ډیر بدکار دے خکه چه خناورو لره د هغه اُوبو نه منع کول نۀ دی پکار کومے چه د ضرورت نه زیاتے وی نو بیا خلقو لره منع کول به څنګه صحیح شی البته که چرے مسافر حربی یا مرتد وی نو هغه لره اوبه ورکول واجب نۀ دی (انتهی)

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَتَوَجَّأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ شَرِبَ سَمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ يَتَرَدَّى فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا

عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَايَعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ بِمِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَيْسَ عَلَى رَجُلٍ نَذْرٌ فِي شَيْءٍ لَا يَمْلِكُهُ

نهٔ تلل جنت ته سوا د مسلمان نه

د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی کوم سړے چه خپل ځان د وسپنے په وسله سره مړ کړی نو هغه وسله به د هغهٔ په لاس کښې وی راکاږی یعنی منډی به هغے لره په ګیډه خپله کښې او د جهنم په اُور کښې به همیشه همیشه اوسیږی او کوم سړے چه زهر اوڅکی او ځان مړ کړی نو هغه به څکی دغه زهرو لره او د جهنم په اُور کښې به همیشه همیشه وی او کوم بنده چه ځان را اورغړی د غر نه او ځان نے قتل کړو نو هغه به همیشه جهنم د اُور په غر کښې رارغړی او همیشه به نے دا حال وی (چه د اوچت ځائے نه به ښکته غورځولے شی)[1]

د ثابت بن ضحاکؓ نه روایت دے هغوی بیعت اوکړو د رسول الله ﷺ نه د رضوان د اونے لاندے او هغوی اوفرمایل کوم بنده چه قسم اوخوری په څهٔ خبره باندے د اسلام نه سوا د بل دین (یعنی داسے اووائی چه کهٔ ما دا کار اوکړو نو زهٔ به نصرانی یا یهودی یا به هندو یم) د دروغو قسم نو دا داسے شوه لکه چه دهٔ اووے او چا چه قتل کړو خپل ځان په څهٔ څیز سره نو هغه له به په هغه څیز عذاب ورکولے شی د قیامت په ورځ په بل چا باندے هغه نذر پوره کول واجب نهٔ دی ولے چه دا ددهٔ په اختیار کښې نهٔ دی (لکه نذر

---

[1] امام نوویؒ وائی په دے مقام باندے څو قولونه دی یو هغه سړے دے چه هغه خودکشی حلاله اوګڼړی په داسے کارونو سره خپل ځان مړ کړی نو هغه کافر دے او بیشکه هغه به همیشه همیشه په جهنم کښې اوسیږی دویمه دا چه د همیشه اوسیدو نه مراد د ډیرے موډی پورے اوسیدل دی دریمه دا چه د دغه کار بدله هم دغه وه چه همیشه همیشه به جهنم کښې وی خو خدائے پاک احسان کړے دے او دا حکم نے کړے دے چه د چا د ژوند خاتمه په اسلام کښې دننه اوشی هغه همیشه په جهنم کښې نهٔ شی پاتے کیدے

اوکړی د بل چا د غلام د ازادولو[1].

عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ عَلَى رَجُلٍ نَذْرٌ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَلَعْنُ الْمُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ فِي الدُّنْيَا عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنِ ادَّعَى دَعْوَى كَاذِبَةً لِيَتَكَثَّرَ بِهَا لَمْ يَزِدْهُ اللهُ إِلَّا قِلَّةً وَمَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ فَاجِرَةٍ

د ثابت بن ضحّاک نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په یو سړی باندے هغه نذر پوره کول واجب نه دی چه هغه ددهٔ په ملک کښې نه وی. او په مسلمان باندے لعنت کول داسے دی لکه د هغه قتلول او کوم بنده چه خپل ځان په دنیا کښې په څهٔ څیز سره قتل کړی هغه له به په قیامت کښې په هغه څیز سره عذاب ورکولے شی. او څوک چه د خپل مال د زیاتولو دپاره د بل په مال د دروغو دعوه اوکړی نو خدائے به د هغهٔ مال نور کم کړی.او کوم بنده چه قسم اوخوری د حاکم په حکم سره د دروغو[2].

عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ سِوَى الْإِسْلَامِ كَاذِبًا مُتَعَمِّدًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عَذَّبَهُ اللهُ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ هَذَا حَدِيثُ سُفْيَانَ وَأَمَّا شُعْبَةُ فَحَدِيثُهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

د ثابت بن ضحّاک انصاری نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه سوا د اسلام نه په بل دین باندے قسم اوخوری په دروغه سره قصداً نو هغه هغه شان شو. او کوم بنده چه خپل ځان په څهٔ څیز سره قتل کړی نو خدائے به په هغه څیز سره دهٔ له عذاب ورکړی د جهنم په اور کښې دا روایت دے د سفیان او د شعبه په روایت کښې دی کوم بنده چه قسم اوخوری په بل دین کښې سوا د

---

[1] یعنی کافر شو دا د زورنے او سختئ په طور باندے دے نووی وئیلی دی چه کله چرے ددهٔ په زړهٔ کښې د اسلام نه سوا د بل دین عظمت وی نو بیشکه بے شبهے کار دے او د چا په زړهٔ کښې چه د بل دین عظمت نه وی بلکه د اسلام دین ددهٔ په زړهٔ کښې دننه دے نو هغه به کافر نه وی په داسے صورت کښې د کفر نه مراد نا شکری ده ولے چه د اسلام مقتضی دا وه چه دا قسم بد قسمونه مهٔ خوری.

[2] نووی وائی ددے نه دا معلومیږی چه په مسلمان باندے لعنت کول صحیح نه دی په دے شان په هغه مسلمان باندے چه هغه فاسق وی په دے شان په چا معین کافر باندے خواه کهٔ هغه ژوندے وی یا مړ وی مگر په هغه کافر باندے چه د هغهٔ په کفر باندے مرګ کیدل په نص سره ثابت وی لعنت کول صحیح دی لکه ابولهب او ابوجهل وغیره او لعنت کول د کافرانو په جماعت باندے صحیح دی لکه لعنت د وی د الله پاک په کافرانو باندے او یا په یهودیانو باندے یا په نصاری باندے او ظاهر حدیث دادے چه لعنت او قتل دواړه په حرمت کښې برابر دی اگر چه قتل ډیر سخت دے دا اختیار کړے دے مازری ددهٔ مال به الله تعالی کم کړی نووی وائی دلته دا عبارت محذوف دے. یا هغه عطف دے دوړمبی جملے په مبتداء باندے او دا مطلب په دویم روایت کښې پوره راغلے چه کوم سړے قسم اوخوری د حاکم په حکم سره د چا مسلمان د مال دباوولو دپاره نو هغه به د الله سره ملاویږی او هغه به دهٔ نه په غصه کښې وی

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ سِوَى الإِسْلاَمِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَمَنْ ذَبَحَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ ذُبِحَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

اسلام نه نو هغه هم هغه شان شو لکه څنګه چه دۀ اووے او کوم سړے چه خپل خان په څۀ څیز سره ذبحه کړی نو هغه به په هغه څیز سره ذبحه کیږی د قیامت په ورځ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ شَهِدْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا فَقَالَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ يُدْعَى بِالإِسْلاَمِ هٰذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلَمَّا حَضَرْنَا الْقِتَالَ قَاتَلَ الرَّجُلُ قِتَالاً شَدِيدًا فَأَصَابَتْهُ جِرَاحَةٌ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلُ الَّذِي قُلْتَ لَهُ آنِفًا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَإِنَّهُ قَاتَلَ الْيَوْمَ قِتَالاً شَدِيدًا وَقَدْ مَاتَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّارِ فَكَادَ بَعْضُ الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَرْتَابَ فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى ذٰلِكَ إِذْ قِيلَ إِنَّهُ لَمْ يَمُتْ وَلٰكِنَّ بِهِ جِرَاحًا شَدِيدًا فَلَمَّا كَانَ مِنَ اللَّيْلِ لَمْ يَصْبِرْ عَلَى الْجِرَاحِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَأُخْبِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذٰلِكَ فَقَالَ اللهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنِّي عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ ثُمَّ أَمَرَ بِلاَلاً فَنَادَى فِي النَّاسِ أَنَّهُ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ وَأَنَّ اللهَ يُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے مونږ د رسول اللهﷺ سره وو په جنګ حنین کښې (قاضی عیاضؒ وائی صحیح خیبر دے په ځائے د حُنین) حضرتﷺ یو سړی ته اوفرمایل چه دعوه ئے کوله د اسلام (یعنی خپل خان ته ئے مسلمان به ویلو) دا د جهنم والو نه دے. هر کله چه د جنګ وخت راغې. نو دا سړے ښۀ اوجنګیدو او زخمی شو. خلقو اووے. یا رسول اللهﷺ! تا چه کوم سړی ته جهنمی ویلے وو. هغه ښۀ ښۀ اوجنګیدو او مړ شو. رسول اللهﷺ اوفرمایل جهنم ته لاړۀ. د بعضے مسلمانانو په دے خبره کښې شک راغلے خو وو (ولے چه د ظاهر حال نه د هغۀ جنتی کیدل مونده شو) په دے کښې خبر راغے چه هغه مړ نۀ دے ژوندے دے. لیکن ډیر سخت زخمی دے. هر کله چه شپه شوه نو هغه د زخمونو تکلیف برداشت نه کړو او خپل خان ئے بخپله اووژلو. هر کله چه رسول اللهﷺ ته دا خبر راورسیدو نو هغۀ اوفرمایل الله لوئے دے او زۀ ګواهی ورکوم د دے خبرے چه زۀ د الله بنده او د هغۀ رالیږلے شوے یم. (ځکه چه کومه خبره هغۀ ښودلے وه هغه ریښتیا اوخته) بیا هغۀ حکم اوکړو بلالؓ ته هغه منادی یعنی آواز اوکړو په خلقو کښې چه جنت ته به لاړنۀ شی یوبنده مګر هغه چه مسلمان وی او الله مدد کوی د دے دین د بد سړی نه[1]

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّ رَسُولَ

د سهل بن سعد ساعدی نه روایت دے چه رسول الله او مُشرکان

[1] دا سړے منافق وو په ظاهر کښې مسلمان په زړۀ کښې کافر. اګر چه هغه د اسلام دپاره ډیر کوشش کړے وو او جنګیدو. زخمی شو. بیا د ایمان نه کیدو په وجه د هغۀ یو کوشش د هغۀ پکار رانغے معلومه شوه چه بغیر د ایمان نه انسان څومره چه ښے خبرے کوی د مسلمانانو مدد کوی. اسلام ته فائده رسوی خو بیا هم هغه بنده جنتی کیدے نۀ شی

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْتَقَى هُوَ
وَالْمُشْرِكُونَ فَاقْتَتَلُوا فَلَمَّا مَالَ رَسُولُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَسْكَرِهِ وَمَالَ
الْآخَرُونَ إِلَى عَسْكَرِهِمْ وَفِي أَصْحَابِ
رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ لَا
يَدَعُ لَهُمْ شَاذَّةً إِلَّا اتَّبَعَهَا يَضْرِبُهَا بِسَيْفِهِ
فَقَالُوا مَا أَجْزَأَ مِنَّا الْيَوْمَ أَحَدٌ كَمَا أَجْزَأَ
فُلَانٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ
الْقَوْمِ أَنَا صَاحِبُهُ أَبَدًا قَالَ فَخَرَجَ مَعَهُ كُلَّمَا
وَقَفَ وَقَفَ مَعَهُ وَإِذَا أَسْرَعَ أَسْرَعَ مَعَهُ
قَالَ فَجُرِحَ الرَّجُلُ جُرْحًا شَدِيدًا
فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ نَصْلَ سَيْفِهِ
بِالْأَرْضِ وَذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَى
سَيْفِهِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَخَرَجَ الرَّجُلُ إِلَى رَسُولِ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ
رَسُولُ اللهِ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالَ الرَّجُلُ الَّذِي
ذَكَرْتَ آنِفًا أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَأَعْظَمَ النَّاسُ
ذَلِكَ فَقُلْتُ أَنَا لَكُمْ بِهِ فَخَرَجْتُ فِي طَلَبِهِ
حَتَّى جُرِحَ جُرْحًا شَدِيدًا فَاسْتَعْجَلَ
الْمَوْتَ فَوَضَعَ نَصْلَ سَيْفِهِ بِالْأَرْضِ
وَذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَيْهِ فَقَتَلَ
نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

مخامخ شو په جنګ کښې او جنګ ئې اوکړو. بیا چه هر کله حضرت د خپل لښکر طرفته واپس شو او هغه خلق خپل لښکر طرفته واپس شو او هغه خلق خپل لښکر طرفته لاړو. نو د حضرت په صحابو کښې یو سړے وو (د هغهٔ نوم قزمان وو او د منافقانو نه وو) څوک نه څوک به ئې نهٔ پریخودو بلکه په مخه سره به ئې په توره بانې قتلول (یعنې چه د کوم کافر سره به مخامخ شو هغه به ئې قتل کړو) نو صحابه کرامو اووے نن چه زمونږ په کار دا سړے راغے داسے هیڅ څوک نهٔ وو راغلے. رسول الله اوفرمایل هغه خو جهنمی دے زمونږ د ملګرو نه یو سړی اووے زهٔ د هغه سره کیږم (او د هغهٔ خبر اخلم چه هغه د جهنم د تلو لائق څهٔ کار کوی ولے چه په ظاهر کښې خو هغه ډیر د خوند کار کوی) بیا هغه سړے د هغه سره اُووتو کوم ځائے چه به دے اودریدو هلته به هغه هم اودریدو. او کوم ځائے چه به هغه په منډه تلو هلته به دے هم په منډه تلو. آخر هغه سړے (یعنې قزمان سخت زخمی شو. او د (زخمونو په تکلیف باندے صبر او نهٔ کړو) زر مړهٔ کیدل ئې غوښتل. او د تورے موټے ئې په زمکه باندے کیښودو نیغه ئې اُودروله او د تورے سُوکه ئې د خپلو دواړو سینو په مینځ کښې برابر کړه او د پاسه ئې پرے د بدن زور ورکړو او ځان ئې پخپله باندے اووژلو. یا هغه سړے (کوم چه د هغه رسول الله ﷺ ته راغے او اُوئې ویل چه زهٔ ګواهی ورکوم ددے خبرے چه ته د الله رالیږلے شوے ئې. حضرت ﷺ اوفرمائیل څهٔ اُوشو؟ هغه سړی اووے تا چه اوس کوم سړی ته جهنمی ویلے وو او خلقو په هغهٔ باندے تعجب کړے وو نو ما ویلی وو چه زهٔ به ستا په واسطه ددهٔ خبر اخلم. بیا زهٔ ددهٔ په لټون کښې اووتم هغه سخت زخمی شو او د زر مړ کیدو دپاره هغه د تورے موټے په زمکه کیښودو او د تورے

وسَلَّمَ عِنْدَ ذٰلِكَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ

سُوکه ئې د خپلو دوارو سینو په مینځ کښې کینښوده بیائې زور ورکړو تر دې پورې چه خپل ځان ئې مړ کړو رسول الله ﷺ چه دا واوریدل نو اوې فرمایل چه د خلقو په نزد د جنتیانو پشان کار کوی او هغه جهنمی وی او د جهنمیانو په شان کار کوی او هغه جنتی وی[1]

عَنِ الْحَسَنِ يَقُولُ إِنَّ رَجُلًا مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ خَرَجَتْ بِهِ قُرْحَةٌ فَلَمَّا آذَتْهُ انْتَزَعَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ فَنَكَأَهَا فَلَمْ يَرْقَأِ الدَّمُ حَتّٰى مَاتَ قَالَ رَبُّكُمْ قَدْ حَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ ثُمَّ مَدَّ يَدَهُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَقَالَ إِي وَاللّٰهِ لَقَدْ حَدَّثَنِي بِهٰذَا الْحَدِيثِ جُنْدَبٌ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هٰذَا الْمَسْجِدِ

د حسن نه روایت دې هغه وئیلی دی چه په وړاندې خلقو کښې په یو سړی دانه راأوخته هغهٔ ته چه هر کله تکلیف شو نو د خپل ترکش نه ئې یو غشے راأویستهٔ او هغه دانه ئې اوځیرله د هغې نه بیا وینه بنده نهٔ شوه. تر دې پورې چه هغه مړ شو. بیا الله تعالی اوفرمائیل ما حرام کړے دے جنت لره په دهٔ باندے. بیا حسن خپل لاس د جماعت په طرف او نیوو او اوئې ویل چه قسم په خدائې چه دا حدیث ماته جندب بیان کړے دے د رسول الله ﷺ نه په دے جماعت کښې[2]

عَنِ الْحَسَنِ يَقُولُ حَدَّثَنَا جُنْدَبُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْبَجَلِيُّ فِي هٰذَا الْمَسْجِدِ فَمَا نَسِينَا وَمَا نَخْشٰى أَنْ يَكُونَ جُنْدَبٌ كَذَبَ عَلٰى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ خَرَجَ بِرَجُلٍ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ خُرَاجٌ فَذَكَرَ نَحْوَهُ

د حسن نه روایت دے مونږ ته جندب بن عبدالله بجلی په دے جماعت کښې حدیث بیان کړے بیا مونږ هغې لره نهٔ دے هیر کړے او نهٔ مونږ ته یره ده چه جندب به دروغ وئیلی وی په رسول الله ﷺ باندے چه فرمائیلی دی رسول الله ﷺ ستاسو نه وړاندے په یو سړی دانه راأوخته بیائې بیان کړه قصه په هغه شان لکه چه تیره شوه

بَاب غِلَاظِ تَحْرِيمِ الْغُلُولِ وَأَنَّهُ لَا

باب مال غنیمت غلا کول سخت حرام دی او نهٔ

[1] نو انسان له پکار دی چه په خپلو عملونو باندے غرور نهٔ کوی او اعتماد پرِ نهٔ کوی بلکه د خدائے نه یریږی او د ښهٔ خاتمے دپاره دعا کوی دغه شان گنهګار لره نا اُمیده کیدل نهٔ دی پکار کیدے شی چه رب ذوالجلال جل شانه ددهٔ د ژوند خاتمه په ښهٔ عمل سره اوکړی

[2] قاضی عیاض رحمه الله وائی شاید دے سړی خودکشی لره حلاله ګنړله یا مراد دا دے چه په دهٔ باندے جنت حرام دے هغه وخت چه هر کله ښهٔ او نیک خلق جنت ته ځی یا به د هغه په حساب کښې اوږدوالے وی یا به هغه اودرولے شی په اعراف کښې نووی وائی چه دا هم کیدے شی چه هغه وخت په شرعه کښې کبیره ګناه کونکے کافر کیدو او دا حدیث محمول دے په دے باندے چه هغه د زر مړ کیدو دپاره یا بغیر د څهٔ مصلحت نه دا حرکت کړے وو خکه د دوائے او علاج دپاره دانه څیرل صحیح دی هر کله چه فائدے غالب ګمان وی

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ أَقْبَلَ نَفَرٌ مِنْ صَحَابَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا فُلَانٌ شَهِيدٌ فُلَانٌ شَهِيدٌ حَتَّى مَرُّوا عَلَى رَجُلٍ فَقَالُوا فُلَانٌ شَهِيدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَّا إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِي بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ قَالَ فَخَرَجْتُ فَنَادَيْتُ أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى خَيْبَرَ فَفَتَحَ اللهُ عَلَيْنَا فَلَمْ نَغْنَمْ ذَهَبًا وَلَا وَرِقًا غَنِمْنَا الْمَتَاعَ وَالطَّعَامَ وَالثِّيَابَ ثُمَّ انْطَلَقْنَا إِلَى الْوَادِي وَمَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدٌ لَهُ وَهَبَهُ لَهُ رَجُلٌ مِنْ جُذَامٍ يُدْعَى رِفَاعَةَ بْنَ زَيْدٍ مِنْ بَنِي الضُّبَيْبِ فَلَمَّا نَزَلْنَا الْوَادِيَ قَامَ عَبْدُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُلُّ رَحْلَهُ فَرُمِيَ بِسَهْمٍ فَكَانَ فِيهِ حَتْفُهُ فَقُلْنَا هَنِيئًا لَهُ الشَّهَادَةُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَّا وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ الشَّمْلَةَ لَتَلْتَهِبُ

به داخلیږی جنت ته مګر مؤمنان خلق

د عمر بن خطاب ؓ نه روایت دے. هر کله چه د خیبر ورځ اوشوه. نو د رسول الله ﷺ یو څو صحابه راغلل او اوے ویل چه فلانے شهید دے فلانے شهید دے. تر دے پورے چه تیر شو په یو سړی باندے نو اوو ے ویل دا شهید دے. رسول الله ﷺ اوفرمایل هیڅ کله شهید نۀ دے. ما هغۀ لره په جهنم کښې لیدلے دے. د یو څادر یا عباء په غلا کښې (یعنی د غلا په وجه سره) بیا رسول الله ﷺ اوفرمایل اے د خطاب ځویه! پاسه او آواز اوکړه په خلقو کښې چه جنت ته به هغه څوک ځی چه هغه ایماندار وی (او غلا کونکے به جنت ته نۀ شی تلے) حضرت عمر ؓ وائی چه زۀ اووتم او آواز م اوکړو په خلقو کښې چه خبردار شی جنت ته نۀ شی تلے مګر مومنان

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتو د خیبر په طرف بیا الله مونږ له فتحه راکړه نو مونږ لوټ نۀ کړلو سره زر او سپین زر (یعنی سره زر او سپین زر په لاس رانغلو) بلکه اولوټل مونږ غله او اسباب او کپړے بیا موږ د وادی طرفته د رسول الله ﷺ سره لاړو د هغۀ یو غلام وو (چه د هغۀ نوم مدعم وو) چه بخلے وو هغه ته یو سړی د جذام نه هر کله چه مونږ په وادئ کښې کوز شو نو د رسول الله ﷺ غلام پاسیدو او د هغۀ کجاوه ئے پرانستله چه په دے کښې یو (غیبی) غشے راغے په هغۀ اولګیدو چه د هغے نه د هغۀ مرګ وو مونږ خلقو اووے مبارکی د وی هغه شهید دے یا رسول الله ﷺ هغوی اوفرمایل هیڅ کله نۀ دے قسم دے په هغه ذات چه د هغۀ په لاس کښې د محمد ﷺ روح دے هغه شمله به دۀ دپاسه د انګار په شان بلیږی. کومه چه دۀ د مال غنیمت نه د خیبر په

عَلَيهِ نَارًا أَخَذَهَا مِنَ الغَنَائِمِ يَومَ خَيبَرَ لَمْ تُصِبهَا الْمَقَاسِمُ قَالَ فَفَزِعَ النَّاسُ فَجَاءَ رَجُلٌ بِشِرَاكٍ أَوْ شِرَاكَينِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَصَبْتُ يَومَ خَيبَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ

ورځ اخستې وه. او د هغه وخته پورې غنيمت تقسيم شوې نه وو په دې اوريدو سره خلق اوېريدل او يو سړې راغې او يوه تسمه يا دوه تسمې ئې راوړې او اوې ويل يا رسول الله ﷺ، ما د خيبر په ورځ دا موندلې وې. رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا تسمه يا تسمې د انګار دي. (يعنې کچرې تا دا داخلې کړې نه وې نو دا تسمه به انګار شوې وو د قيامت په ورځ به پر ترلې شوې وې يا تالره به عذاب درکيدې شو دا دې تسمو دوجې نه)[1]

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ قَاتِلَ نَفْسِهِ لَا يَكْفُرُ

باب: خودکشي کونکې کافر نه وي

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ الطُّفَيلَ بْنَ عَمْرٍو الدَّوْسِيَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ لَكَ فِي حِصْنٍ حَصِينٍ وَمَنْعَةٍ قَالَ حِصْنٌ كَانَ لِدَوْسٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَبَى ذٰلِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِلَّذِي ذَخَرَ اللهُ لِلْأَنصَارِ فَلَمَّا هَاجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

د جابر ؓ نه روايت دې چه طفيل بن عمرو دوسي ؓ رسول الله ﷺ له راغې او عرض ئې اوکړو يا رسول الله ﷺ، ته يو مضبوط قلعه او لښکر غواړې (د هغه قلعې په باره کښې ئې اووې کوم چه د دوس وو د جاهليت په زمانه کښې) هغه قبول نه کړو ددې وجې نه چه الله تعالى د مدينې د انصارو په حصه کښې دا خبره ليکلې وه (چه رسول الله ﷺ د هغوی سره پاتې شي د هغوی په حمايت او حفاظت کښې) نو هر کله چه رسول الله ﷺ د مدينې په طرف هجرت اوکړو نو طفيل بن عمرو ؓ

---

[1] امام نووی رحمة الله عليه وائي ددې دواړو حديثونو نه دا احکام راوخي يو خو غلول يعنې د غلا حرام کيدل په مال غنيمت کښې دويم دا نه کولې په لږه او ډيره کښې ترڅو پورې چه د يوې تسمې غلا هم حرامه ده. دريم دا چه چا غلا کړې وي هغه به په شهيد نه شي ويلې. څلورم دا چه څوک د کفر په حالت کښې مړ شي هغه به جنت ته نه شي تلې او په دې باندې اجماع ده د مسلمانانو پنځم دا چه بغير د ضرورت نه قسم خوړل صحيح دي ولې چه حضرت ﷺ پخپله باندې قسم خوړلې دې شپږم دا چه چا څه غلا اوکړه د غنيمت په مال کښې نو هغه لره هغه څيز واپس کول او داخلول واجب دي او هر کله چه ئې هغه واپس کړې نو د هغه نه به اخستې شي او د هغه مال به نه شي سيزلې خواه که هغه ئې واپس کړي يا ئې واپس نه کړي ولې چه حضرت ﷺ د شملې د غل او د تسمې د غل مال نه دې سيزلې او که چرې دا واجب وې نو هغه به داسې کړي وو او هغه چه کوم د حديث نه منقول ده چه کوم بنده د غنيمت په مال کښې غلا اوکړي نو د هغه اسباب اوسيزئ او هغه اووهئ يا ئې مړ کړئ نو دا حديث ضعيف لره ابن عبد البر بيان کړې دې طحاوي رحمه الله ويلې دي که چرې هغه صحيح هم وي خو منسوخ شوې دې او دا د هغه وخت حکم دې هر کله چه مالي سزا جائز وه (يعنې اوس په شريعت کښې مالي سزا ورکول. لکه جرمانه جائيداد ضبط کول وغيره نه دي پاتې)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ هَاجَرَ إِلَيْهِ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو وَهَاجَرَ مَعَهُ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ فَاجْتَوَوْا الْمَدِينَةَ فَمَرِضَ فَجَزِعَ فَأَخَذَ مَشَاقِصَ لَهُ فَقَطَعَ بِهَا بَرَاجِمَهُ فَشَخَبَتْ يَدَاهُ حَتَّى مَاتَ فَرَآهُ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فِي مَنَامِهِ فَرَآهُ وَهَيْئَتُهُ حَسَنَةٌ وَرَآهُ مُغَطِّيًا يَدَيْهِ فَقَالَ لَهُ مَا صَنَعَ بِكَ رَبُّكَ فَقَالَ غَفَرَ لِي بِهِجْرَتِي إِلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا لِي أَرَاكَ مُغَطِّيًا يَدَيْكَ قَالَ قِيلَ لِي لَنْ نُصْلِحَ مِنْكَ مَا أَفْسَدْتَ فَقَصَّهَا الطُّفَيْلُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ وَلِيَدَيْهِ فَاغْفِرْ

هم د هغوی سره هجرت اوکړو او د هغهٔ سره د هغهٔ د قوم یو سړی هم هجرت اوکړو. بیا د مدینې هوا په هغهٔ برابر رانغله او د هغهٔ په ګیډه کښې درد پیدا شو، هغه سړے کوم چه د طفیل سره راغلے وو ناجوړه شو او د تکلیف د وجې نه هغهٔ غشي واخسته او د خپلو ګوتو جوړونه ئې پرے کړه. او د دواړو لاسونو نه ئې وینه بهیدل شروع شو ترد ے پورے چه هغه مړ شو. بیا طفیل بن عمرو هغه په خوب کښې اولیدو او د هغهٔ شکل ښهٔ وو. مګر خپل دواړو لاسونه ئې پټ کړی وو. طفیل تر نه تپوس اوکړو چه ستا رب ستا سره څهٔ سلوک اوکړو هغه اووے بخښنه ئې اوکړه ماته خکه چه ما هجرت کړے وو د هغهٔ د پیغمبر ﷺ په طرف. طفیل اووے څهٔ وجه ده؟ زهٔ وینم چه تا خپل دواړه لاسونه پټ کړی دی. هغهٔ سړی اووے چه ماته حکم اوشو. چه موږ دا نهٔ روغه وو دے لره تا پخپله خراب کړی دی. بیا دا خوب طفیل رسول الله ﷺ ته بیان کړو. هغوی اوفرمائیل چه اے خدایه ددهٔ دواړه لاسونه هم اوبخے لکه څنګه چه تا د هغهٔ په نور بدن باندے کرم فرمایلے دے د هغهٔ دواړه لاسونه هم صحیح کړے[1]

بَاب فِي الرِّيحِ الَّتِي تَكُونُ قُرْبَ الْقِيَامَةِ تَقْبِضُ مَنْ فِي قَلْبِهِ شَيْءٌ

باب: د هغے هوا بیاب چه قیامت ته نزدے به راوالوزی او مړ به کړی هر هغه سړی لره چه د هغهٔ

[1] امام نووی وائی په دے حدیث کښې دلیل دے د هغهٔ لوئې فائدے کومه چه اهلِ سنتو خپله کړے ده چه کوم بنده خپل ځان پخپله مړ کړی یا بل څهٔ ګناه اوکړی او بیا بغیر د توبې ویستلو نه مړ شی نو هغه کافر نهٔ دے او نه دا ضرور ده چه هغه به جهنم ته ځی بلکه هغه د خدائے په مرضئ باندے ده او پورته دا قاعده بیان شوے ده ددے نه دا ثابته شوه چه ګنهګار به عذابیږی او د ګناهونو نه به ورته نقصان رسیږی او رد کړے دے په د مرجیو چه هغه وائی د ایمان سره د ګناهونو نه ضرر نهٔ وی په تحفة الاخیار کښې دی چه ددے حدیث نه لوئې فضیلت د هجرت ثابت شو ددغه سړی د خپلو وژلو نیت نهٔ وو چه حرام مرګ شی د تکلیف نه دا حرکت شوے وو یا کیدے شی چه د هلاکت نیت ئې وو مګر د هجرت په برکت او د حضرت ﷺ په دُعا سره اوبخلے شو

مِنَ الْإِيمَانِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يَبْعَثُ رِيحًا مِنَ الْيَمَنِ أَلْيَنَ مِنَ الْحَرِيرِ فَلَا تَدَعُ أَحَدًا فِي قَلْبِهِ قَالَ أَبُو عَلْقَمَةَ مِثْقَالُ حَبَّةٍ وَقَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ

په زره كښې د رتئ په مقدار ايمان وي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي وو. البته خدائے پاک به راوالوزوي يوه هوا د يمن د ملک نه چه هغه به د ريښمو نه هم زياته نرمه وي بيا به دا هوا نه پريږدي هغه بنده لره چه د هغه په زړه كښې د دانے برابر يا د رتئ په مقدار هم ايمان وي يعنې هغه به اووژني[1]

بَابُ الْحَثِّ عَلَى الْمُبَادَرَةِ بِالْأَعْمَالِ قَبْلَ تَظَاهُرِ الْفِتَنِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا أَوْ يُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا

باب: د فتنے او فساد خوريدو نه وړاندے د نيک عملونو په ځائے راوړلو ترغيب

د ابوهريرهؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ فرمايلي دي زر زر نيک كار كوئ د هغه فتنو نه وړاندے چه هغه د تيارے شپے د حصو په شان وي. سحر به سړے ايماندار وي. او ماښام به كافر وي يا به ماښام ايماندار وي او سحر به كافر وي. او خپل دين به خرڅوي د دنيا د مال په بدله كښې[2]

---

[1] نو څوک ايماندار به په دنيا كښې باقي پاتے نه شي دغه وخت به قيامت شي نووي رحمه الله وائي دد ے مضمون حديثو نه نور هم راغلي دي لكه دا حديث چه قيامت به د هغه وخت پورے نه قائميږي تر كومے چه الله الله وئونكي باقي پاتے وي. يا دا حديث چه قيامت به نه قائميږي مگر په بد ترينو خلقو بانده ے او دا ټول حديثونه په خپل ظاهربانده ے محمول دي او هغه چه كوم په بل حديث كښې راغلي دي چه يو جماعت خما د امت به په حق بانده ے قائم وي د قيامت د ورځے پورے به د هغے مخالف نه وي ولے چه مراد دد ے نه داد ے چه هغه جماعت به قائم وي تر د ے پورے چه دغه هوا به هغه ختم كړي نو بيا به قيامت قائميږي او دا چه نے ويلي چه د چا په زړه كښې د رتئ په مقدار يا د دانے برابر ايمان وي نو دد ے نه هغه مذهب ثابت شو كوم چه صحيح د ے چه ايمان زياتيږي او كميږي او د ريښمو نه زيات د نرميدو نه غرض داد ے چه هغه هوا به نرمه او مزيداره وي او په يو بل حديث كښې داسے دي چه هغه هوا به د شام د طرفنه چليږي دد ے جواب داد ے چه كيد ے شي چه دغه وخت دوه هوا گانے چليد ے يوه د يمن د طرفنه او بله د شام د طرفنه يا يوه هوا وي خو شروع كيږي د يمن نه او بيا خوريږي د شامه پورے. والله اعلم

[2] يعني د دنيا طمعه په دغه وخت دومره غالبه شي چه د ايمان محبت په زړه كښې پاتے نه شي د لږے شان دنياوي فائد ے دپاره انسان ايمان لره پريږدي او كفر اختيار كړي دا خبره زمونږ په زمانه كښې ډيره خوره شوه چه د ايمان قدر او منزلت بالكل پاتے نه شو او چا نه چه گورے د دنيا طلب گار د ے ډيرو خلقو لره اوليد ے شول چه وړاند ے مسلمانان ديندار وو بيا د دنيا په طمعه بے ايمانه

باب مَخَافَةِ الْمُؤْمِنِ أَنْ يَحْبَطَ عَمَلُهُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ جَلَسَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ فِي بَيْتِهِ وَقَالَ أَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَاحْتَبَسَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ فَقَالَ يَا أَبَا عَمْرٍو مَا شَأْنُ ثَابِتٍ اشْتَكَى قَالَ سَعْدٌ إِنَّهُ لَجَارِي وَمَا عَلِمْتُ لَهُ بِشَكْوَى قَالَ فَأَتَاهُ سَعْدٌ فَذَكَرَ لَهُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ثَابِتٌ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ وَلَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي مِنْ أَرْفَعِكُمْ صَوْتًا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَذَكَرَ ذَلِكَ سَعْدٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بَلْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ

باب: مومن لره د خپلو عملونو د ختمیدو نه یره پکار ده

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے هر کله چه دا ایت نازل شو. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ د آخره پورے نو ثابت بن قیس بن شماس په خپل کور کښ ناست وو او دائے اووے چه زهٔ جهنمی یمه ولے چه د هغهٔ آواز ډیر اوچت وو او هغه خطیب وو د انصارو خکه هغه او یریدو او نهٔ راتلو د رسول الله ﷺ خواله هغوی د سعد بن معاذ ؓ نه تپوس اوکړو چه اے ابا عمرو د ثابت ؓ څهٔ حال دے. ولے ناجوړه شوے دے؟ سعد اووے هغه خما ګاونډی دے. زهٔ نهٔ یم خبر چه هغه ناجوړه دے بیا سعد ؓ د ثابت ؓ خواله راغے او هغوی ته ئے دا بیان اوکړو کوم چه رسول الله ﷺ فرمایلے وو ثابت ؓ اووے دا آیت نازل شو او تاسو ښهٔ پوهیږئ چه په تاسو تولو کښ خما آواز اوچت دے په رسول الله ﷺ باندے. نو زهٔ جهنمی یمه. بیا سعد ؓ دا خبره رسول الله ﷺ ته بیان کړه. حضرت ﷺ اوفرمایل نهٔ دے هغه جنتی دے[1]

په دویم روایت کښ هم دغه شان دی چه ثابت بن قیس بن

شوی دی او کفر ئے اختیار کړے دے څوک نصرانی جوړ شو څوک د هریه خدائے د مونږ محفوظ اُوساتی نووی رحمه الله وانی مراد دا دے چه په دغه زمانے کښ داسے فتنے پرله پسے وی. چه د ایمان بچ کول به مشکل وی په یوه ورځ کښ دنته به داسے انقلاب وی چه سحر به بنده مومن وی او ماښام به کافر شی او ماښام به کافر وی او سحر به مسلمان شی په تحفة الاخیار کښ دی چه په دے حدیث کښ: هغه فسادونو خبر دے کوم چه د یزید او سلطنت مروانیه په زمانه کښ واقع شول په دے حدیث کښ ارشاد دے چه فرصت د بنده غنیمت اوګڼړ داو د پریشانئ نه د مخکښ چه څهٔ نیک عمل ترے کیږی اوکړی

[1] یعنی اے د ایمان خاوندانو اوچت نه کړئ خپل آوازونه د پیغمبر ﷺ د آواز نه او مهٔ وائی ددهٔ نه په زور سره لکه چه وائی یو بل نه چرنه برباد نهٔ شی ستاسو عمل او تاسو ناخبره یئ نو وے یرول مومنانو لره د بے ادبئ نه د حضرت ﷺ په صحبت کښ چه چرته داسے او نهٔ شی چه بے ادبی ستاسو تول عملونه ختم کړی ولے چه آواز خپل اوچتول څهٔ بد نهٔ دی بلکه د رسول الله ﷺ په وړاندے اوچت آواز سره خبرے کول او چغے وهل منع دی نووی وانی دا دے حدیث نه د ثابت بن قیس لوئے فضیلت معلوم شو ولے چه د هغهٔ جنتی کیدل ثابت شو ودے ته دا خبره هم را اوونه چه اما یا سردار لره د خپلو خلقو حال معلومول پکار دی کوم چه غائب شوی وی

بْنِ شَمَّاسٍ خَطِيبِ الْأَنْصَارِ فَلَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ بِنَحْوِ حَدِيثِ حَمَّادٍ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِ ذِكْرُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ

شماس د انصارو خطیب وو بیا چه هر کله دا آیت نازل شو د آخره پورے او په دے کښ د سعد ابن معاذ ذکر نشته دے.

عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَمْ يَذْكُرْ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ فِي الْحَدِيثِ

هم هغه حدیث دے کوم چه پورته تیر شو.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ وَلَمْ يَذْكُرْ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ وَزَادَ فَكُنَّا نَرَاهُ يَمْشِي بَيْنَ أَظْهُرِنَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ

په دے روایت کښ هم د سعد بن معاذ ذکر نشته زیاتے پکښ دومره دے چه انس وائی ثابت زمونږ د خلقو په مینځ کښ روان وو. مونږ به هغهٔ ته کتل چه یو سړی جنتی په مونږ کښ روان وو.

بَاب هَلْ يُؤَاخَذُ بِأَعْمَالِ الْجَاهِلِيَّةِ

باب : هر کله چه څوک مسلمان شی. نو آیا د کفر د وخت په عملونو به نیوے شی؟

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ أُنَاسٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنُؤَاخَذُ بِمَا عَمِلْنَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ قَالَ أَمَّا مَنْ أَحْسَنَ مِنْكُمْ فِي الْإِسْلَامِ فَلَا يُؤَاخَذُ بِهَا وَمَنْ أَسَاءَ أُخِذَ بِعَمَلِهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَالْإِسْلَامِ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے څهٔ خلقو اووے رسول الله ﷺ ته یا رسول الله ﷺ ولے زمونږ نه به تپوس کیږی د هغه کارونو کوم چه مونږ د جاهلیت په زمانه کښ کړی دی. حضرت او فرمایل په تاسو کښ چه چا په ښهٔ شان سره اسلام قبول کړو (یعنی د زړهٔ نه رښتونے مسلمان شو) د هغهٔ نه به د جاهلیت د کارونو تپوس نهٔ کیږی. او کوم چه بد دے (یعنی صرف په ظاهر کښ مسلمان وی او په زړهٔ کښ ئے کفر پاتے وی) د هغهٔ نه به تپوس کیږی د جاهلیت او د اسلام د دواړو وختونو د کارونو [1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَنُؤَاخَذُ بِمَا عَمِلْنَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ قَالَ مَنْ أَحْسَنَ فِي

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے. مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ زمونږ نه به بدله اخستے شی د هغه کارونو کوم چه د جاهلیت په وخت

[1] ولے چه هغه په کفر باندے قائم پاتے شو او په حقیقت کښ هغه مسلمان نهٔ شو بلکه منافق شو نووی رحمه الله وائی چه اسلام غوڅوی وړمبے د کفر د زمانے ټول گناهونه یعنی د اسلام د قبلولو نه پس معاف کیږی او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده

الإِسْلامِ لَمْ يُؤَاخَذْ بِمَا عَمِلَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَمَنْ أَسَاءَ فِي الإِسْلامِ أُخِذَ بِالأَوَّلِ وَالآخِرِ

کښې مونږه کړې دي؟ حضرت ﷺ اوفرمايل چا چه نيکي اوکړه په اسلام کښې د هغه نه به د جاهليت د وخت د کارونو بدله نه شي اخستے او چا چه بد اوکړل په اسلام کښې د هغه نه به بدله اخستے شي د دواړو يعني د کفر د وخت او دورستو يعني د اسلام دوخته د دواړو وختونو د کارونو

بَاب كَوْنِ الإِسْلامِ يَهْدِمُ مَا قَبْلَهُ وَكَذَا الْحَجُّ وَالْهِجْرَةُ

باب: اسلام، حج او د هجرت نه مخکښې د ګناهونو معاف کيدل

عَنِ ابْنِ شِمَاسَةَ الْمَهْرِيِّ قَالَ حَضَرْنَا عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ وَهُوَ فِي سِيَاقَةِ الْمَوْتِ يَبْكِي طَوِيلاً وَحَوَّلَ وَجْهَهُ إِلَى الْجِدَارِ فَجَعَلَ ابْنُهُ يَقُولُ لَهُ مَا يُبْكِيكَ يَا أَبَتَاهُ أَمَا بَشَّرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَذَا أَمَا بَشَّرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَذَا قَالَ فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ فَقَالَ إِنَّ أَفْضَلَ مَا نُعِدُّ شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ إِنِّي كُنْتُ عَلَى أَطْبَاقٍ ثَلاَثٍ لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَمَا أَحَدٌ أَشَدَّ بُغْضًا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِّي وَلاَ أَحَبَّ إِلَيَّ أَنْ أَكُونَ قَدِ اسْتَمْكَنْتُ مِنْهُ فَقَتَلْتُهُ فَلَوْ مُتُّ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ لَكُنْتُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلَمَّا جَعَلَ اللهُ الإِسْلاَمَ فِي قَلْبِي أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ ابْسُطْ يَمِينَكَ فَلأُبَايِعْكَ فَبَسَطَ يَمِينَهُ قَالَ

ابن شماسه (عبد الرحمٰن بن شماسه بن ذئب) مهری نه روايت دے مونږ د عمرو بن عاص ؓ خواله لاړو او هغه مرګ ته نزدے وو نو د ډير وخته پورے ئے اوژړل او خپل مخ ئے واړه وو ديوال طرفته نو د هغه خوئي يعني خپل خوئي ورته اووے بابا! ته ولے ژاړے؟ ولے تاته رسول الله ﷺ دا خوشخبري نه ده درکړے! بيا هغه ورته خپله خلهٔ نزدے کړه او ورته ئے اووے په ټولو خبرو کښې غوره مونږ ګنړو ددے خبرے ګواهي ورکول چه نشته دے معبود برحق مګر يو الله دے او محمد ﷺ د هغهٔ راليږلے شوے دے. او په ما باندے درے حالة تير شوي دي يو حال دا وو چه ما پخپله اوليدو چه د رسول الله ﷺ نه م زيات بد خوک نهٔ ګڼړلو او خما دا آرزو وه چه په څهٔ شکل به ئے قابو کړم او مړ به ئے کړم (معاذالله) بيا کهٔ چرے زهٔ مړ وے په دے حال کښې نو جهنمي به وم. دويم حال دا وو چه الله د اسلام محبت خما په زړهٔ کښې اوغورځوو او زهٔ رسول الله ﷺ له راغلم ما اووے چه خپل ښے لاس راديخوا کړه چه زهٔ ستا نه بيعت اوکړم. حضرت ﷺ خپل لاس راديخوا کړو نو ما تر نه خپل لاس واپس راښکهٔ رسول الله ﷺ اوفرمايل اے عَمرو! تاله څهٔ اوشو؟ ما اووے زهٔ شرط کول غواړم

فَقَبَضْتُ يَدِي قَالَ مَا لَكَ يَا عَمْرُو قَالَ قُلْتُ أَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِطَ قَالَ تَشْتَرِطُ بِمَاذَا قُلْتُ أَنْ يُغْفَرَ لِي قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلِهَا وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ وَمَا كَانَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا أَجَلَّ فِي عَيْنِي مِنْهُ وَمَا كُنْتُ أُطِيقُ أَنْ أَمْلَأَ عَيْنَيَّ مِنْهُ إِجْلَالًا لَهُ وَلَوْ سُئِلْتُ أَنْ أَصِفَهُ مَا أَطَقْتُ لِأَنِّي لَمْ أَكُنْ أَمْلَأُ عَيْنَيَّ مِنْهُ وَلَوْ مُتُّ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ لَرَجَوْتُ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ثُمَّ وَلِينَا أَشْيَاءَ مَا أَدْرِي مَا حَالِي فِيهَا فَإِذَا أَنَا مُتُّ فَلَا تَصْحَبْنِي نَائِحَةٌ وَلَا نَارٌ فَإِذَا دَفَنْتُمُونِي فَشُنُّوا عَلَيَّ التُّرَابَ شَنًّا ثُمَّ أَقِيمُوا حَوْلَ قَبْرِي قَدْرَ مَا تُنْحَرُ جَزُورٌ وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا حَتَّى أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ وَأَنْظُرَ مَاذَا أُرَاجِعُ بِهِ رُسُلَ رَبِّي

حضرت اوفرمایل څهٔ شرط؛ ما اووے دا شرط چه خما ګناهونه معاف شی (کوم چه م تر اوسه کړی دی) هغوی اوفرمایل اے عَمرو! ته نهٔ پوهیږے چه اسلام غورځوی ورمبو ګناهونو لره. دغه شان حج غورځوی ورمبو ګناهونو لره. بیا د رسول الله ﷺ نه زیات خما د چا سره محبت نه وواو نه خما په نظر کښې د هغهٔ نه زیات د چا شان وو. او ما به په غټو سترګو هغهٔ ته نهٔ شو کتلے د هغهٔ د خلال او جمال د وجې نه. او که څوک خمانه د هغهٔ د صورت تپوس اوکړی نو زهٔ ئے بیان کولے نهٔ شم ولے چه ما په غټو سترګو هغهٔ ته نهٔ شو کتلے او که چرے په هغه حال کښې زهٔ مړوے نو امید وو چه جنتی به وم ورستو د هغے نه په څو نورو څیزونو کښې ماته ننبتل پریوتل. زهٔ نهٔ پوهیږم چه خما به څهٔ حال وی. د هغے په وجه سره. نو هر کله چه زهٔ مړ شم نو خما د جنازے سره د څوک ژړا کونکے او چغے وهونکے نهٔ وی او نهٔ د اُور وی او هر کله چه زهٔ دفن شم نو خاوره واچوئ په ما باندے په ښهٔ شان او خما د قبر نه چا پیره اودریږئ د دومره وخته پورے په څومره وخت کښې چه اوښ ذبح کولے او ویشلے شی د هغے غوښه. ددے دپاره چه خما زړ خوشحاله شی ستاسو نه (او زهٔ په یواځیوالی کښې اونهٔ یریږم) او ګورم چه د پروردګار وکیلانو ته به زهٔ څهٔ جواب ورکوم[1]

[1] یعنی منکر نکیر لره. نووی وائی ددے حدیث نه ډیر خبرے معلومے شولے یو خو دا چه څوک مرګ ته نژدے شی هغه ته تسلی او تشفی ورکول پکار دی او د اُمید او د عفوے او د خوشحالی آیتونه ورته اورول پکار دی لکه چه د عمرو بن عاص خوئ اووے او دا مستحب دی په اتفاق سره. دویمه دا چه صحابو د رسول خدا ﷺ څومره قدرے عزت او حُرمت کولو. دریمه دا چه د جنازے سره ژړلونکی. او اُور اوړل منع دی او عالمانو دے لره مکروه کړی دی لیکن نوحه کول خو حرام دی او اُور اوړل خو مکروه دی په وجه د دویم حدیث باندے او سبب د کراهت دادے چه دغه عادت دے د جاهلیت د زمانے. او ابن حبیب مالکی وائی په اُور ایخودو کښې شګون بد دے د مړی دپاره. څلورم دا چه خاوره اچول په قبر باندے مستحب دی. پنځم دا چه په قبر باندے کیناستل نه دی بکار لکه چه په بعضے ملکونو کښې دستور دے. شپږم دا چه په قبر کښې د مړی امتحان وی او فرښتے د هغهٔ نه سوال کوی او

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ قَتَلُوا فَأَكْثَرُوا وَزَنَوْا فَأَكْثَرُوا ثُمَّ أَتَوْا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا إِنَّ الَّذِي تَقُولُ وَتَدْعُو إِلَيْهِ لَحَسَنٌ وَلَوْ تُخْبِرُنَا أَنَّ لِمَا عَمِلْنَا كَفَّارَةً فَنَزَلَ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا وَنَزَلَ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلٰى أَنْفُسِهِمْ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے په مشرکانو کښې څو خلقو د شرک په حالت کښې ډیر قتلونه کړي وو او ډیر زنا وو نه ئے کړي وو نو هغه رسول الله له راغلل او عرض ئے اوکړو ته چه څهٔ وائے او د کومے لارے طرفته رابلل کوے هغه ښه ده. او کهٔ چرے تهٔ مونږ ته ښائے زمونږ دګناهونو کفاره نو مونږ اسلام راوړو دغه وخت دا آيات نازل شو وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللهِ اِلٰهًا اٰخَرَ د آخره پورے یعنی چه کوم خلق د خدائے تعالٰی سره بل معبود نهٔ ګڼړي او د کوم روح وژل چه خدائے پاک حرام کړي دي هغه نهٔ وژني مګر د چا د حق په بدله او زنا نهٔ کوي او څوک چه دا کارونه (یعنی قتل، او زنا او شرک کوي) نو هغه به بدله اومومي. او دهٔ لره به دردناک عذاب وي د قیامت په ورځ او همیشه به اوسیږي په عذاب کښې په ذلت سره. خو چه چا ایمان راوړو، او توبه ئے ویسته او نیک کارونه ئے کول نو د هغه بدئ ورانیږي او نیکئ ترِ جوړیږي او الله تعالٰی مهربان دے بخونکے دے (او خدائے هغه خلقو ته اوخوده چه تاو اسلام راؤړئ نو ستاسو وړمبی ټول ګناهونه به د شرک د زمانے معاف شي) او دا ایت نازل شو يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ د آخره پورې یعنی اے خما بندیګانو چه چه ګناهونه کړي دي مهٔ نا اُمیده کیږئ د الله د رحمت نه

بَابُ بَيَانِ حُكْمِ عَمَلِ الْكَافِرِ إِذَا أَسْلَمَ بَعْدَهُ

باب کافر کهٔ چرے د کفر په حالت کښې نیک کار اوکړي بیا مسلمان شي

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ

حکیم بن حزام رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه تاته پته شته چه د

: : خاوندانو د حق مذهب دے اُوم دا چه د دفن کیدو نه پس د لږ ساعت د پاره د قبر په خوا کښې اودریدل بکار دي او دا مستحب دي اے دا چه مړده په خپل قبر باندے د حاضریدونکو آواز اوري نهم دا چه د مشترکے غوښے تقسیمول صحیح دي دغه شان د شو میوو لکه انګور او په دے کښې زمونږ د اصحابو اختلاف دے چه مشهور دے انتهی مختصراً

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ أُمُورًا كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ هَلْ لِي فِيهَا مِنْ شَيْءٍ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمْتَ عَلَى مَا أَسْلَفْتَ مِنْ خَيْرٍ وَالتَّحَنُّثُ التَّعَبُّدُ

جاهلیت په زمانه کښې چه ما کوم د عبادت کار کړے دے (یعنی نیک مې ګڼړلے د ګناه نۀ دوتو دپاره، د هغې ثواب به ماته میلاویږی (یعنی دکفر د زمانے نیک کار خو به بے کاره نۀ حی هغوی او فرمائیل تا اسلام راوړو په ورمبو تولو نیکو باندے چه تا کړی دی[1]

---

[1] یعنی هر کله چه ته مسلمان شوے نو ستا د کفر د زمانے نیکئ هم بیکاره نۀ خی بلکه د هغې تولو ثواب به ورکولے شی. البته که چرے ته مسلمان شوے نۀ وے او د کفر په حالت کښې مړ وے نو ستا تولے نیکئ به برباد شوے وے. دا مطلب د حدیث نۀ اوخی او دا قول دے د ابن ابطال او محققینو چه کافر که چرے مسلمان شی نو د هغۀ هغه نیک کار کوم چه نے د کفر په زمانه کښې کړے وی بے کاره نۀ خی او خدائے پاک به په هغې باند ثواب ورکوی په دلیل د هغه حدیث چه دارقطنی د ابوسعید خدری نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه یو کافر مسلمان شی او بیا د هغۀ اسلام ښۀ وی نو خدائے پاک به ددۀ هرے نیکئ لره او لیکی کومے چه نے کړی وی او هره بدی به نے ورانه کړی کومه چه نے کړےوی او د اسلام د قبلولو نه پس چه کومه نیکی کوی نو د یوے نیکئ په بدله کښې به دلسو د اوو سووو پورې ثواب ملاویږی او د هرے بدئ په بدله به یوه بدی لیکلے شی خو هر کله چه خدائے دے لره هم معاف کړی نو یوه بدی به نے هم نۀ شی لیکلے امام ابو عبد الله مازری وائی ظاهر حدیث خلاف دے ددے قاعدے نه کومه چه مقرر شوی ده چه د کافر تقرب صحیح نۀ دے بیا به د هغه په نیکئ باندے ثواب هم نۀ وی او ایمان راوړل د هغه اطاعت دے نۀ تقرب خکه چه په تقرب کښې شرط دے چه د چا سره تقرب کوی هغه پیژنی او هغه د کفر په حالت کښې خدائے هم برابر پیژندلے نۀوو په دے صورت کښې د حدیث تاویل کول ضروری دی یعنی مطلب دادے چه د کفر په زمانه کښې چه تا کومے نیکئ کړے وے د هغې په وجه سره ستا طبیعت نیک شوے وو او په تا کښې د نیک کار کولو ادت پیدا شو بیا تۀ په دغه عادت او طبیعت سره په اسلام کښې هم فائده اخستے شی ولے چه هغه بوخی تا لره د نیکو کارونو طرفته یا مطلب دادے چه ددغه نیکو په وجه سره تۀ مستحق شوے د تعریف چه هغه د اسلام په حالت کښې هم باقی دے یا دا مطلب دے چه د اسلام په حالت کښې به تاته د نیکو ثواب د نورو نه زیات ملاویږی ولے چه تا مخکښې هم نیک کار کړے دے او هر کله چه کافر لره د نیک عملونو په وجه په عذاب کښې سپک والے راځی نو د ثواب زیاتیدل څۀ ګران نۀ دی ختم شو کلام د مازری قاضی عیاض وئیلی دی چه بعضے وائی مطلب د حدیث دادے چه د ورمبو نیکو په برکت سره خدائے تا نه د اسلام هدایت اوکړو او نوکئ په اول کښې دلول دی د ښے خاتمے او د سعادت د انجام (انتهی) لوکن صحیح هغه دے کوم چه ابن ابطال وغیره وئیلے دے چه حدیث محمول دے په ظاهر باندے ابن ابطال وائی الله ته اختیار دے چه په خپلو بندګانو باندے څومره چه غواړی او په څۀ شان له چه غواړی عنایت کوی او چا ته په دے کښې د اعتراض مجال نشته او فقهاؤ چه کوم وئیلی دی چه د کافر عبادت صحیح نۀ دے او که چرے هغه اسلام راوړی نو د هغې عبادت اعتبار به نۀ وی ددی مطلب دادے چه ددنیا د احکامو ورو سره د هغوی عبادت صحیح نۀ دے. او د آخرت ثواب د الله پاک په اختیار کښې دے اوس که چرے څوک داسے اووائی چه په آخرت کښې به هم په دے باندے ثواب نۀ وی نو دهغۀ قول به رد کیدے شی ددے صحیح حدیث نه او د کفارو د بعضے افعالو خو په دنیا کښې هم اعتبار وی پخپله فقهاؤ وئیلی دی چه که چرے په کافر باندے په حالت د کفر کښې څه کفارہ لکه د ظهار وغیره کفاره واجب وی بیا هغه دے لره ادا کړی د کفر په حالت کښې نو پوره به شی او د اسلام د راوړو نه پس دوباره کفاره ورکول لازم به نۀ دی او اختلاف کړے دے شافعیو چه که چرے د کفر په حالت کښې جنب شو بیائے غسل اوکړو په کفر ته حالت کښې او ددے نه پس مسلمان شو نو دوباره غسل کول لازمی دی یا نۀ دی او زمونږ بعضے ملګرو په دے کښې مبالغه کړے ده چه

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ أُمُورًا كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ مِنْ صَدَقَةٍ أَوْ عَتَاقَةٍ أَوْ صِلَةِ رَحِمٍ أَفِيهَا أَجْرٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمْتَ عَلَى مَا أَسْلَفْتَ مِنْ خَيْرٍ

د حکیم بن حزامؓ نه روایت دے. هغوی اووے رسول اللهﷺ ته یا رسول اللهؐ! په دے کښې ته څۀ وائے چه کوم نیک کارونه ما د جاهلیت په زمانه کښې کړی دی لکه صدقه یا د غلام آزادول یا صله رحمی کول دهغے ثواب به ماله راکولے شی؟ هغوی اوفرمایل تا اسلام راوړے په هغه نیکئ باندے کومے چه تا وړاندے کړی دی (یعنی هغه نیکی قائمه ده. اوس هغه په اسلام کښې زیاته شوه

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَفْعَلُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ قَالَ هِشَامٌ يَعْنِي أَتَبَرَّرُ بِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمْتَ عَلَى مَا أَسْلَفْتَ لَكَ مِنَ الْخَيْرِ قُلْتُ فَوَاللهِ لَا أَدَعُ شَيْئًا صَنَعْتُهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِلَّا فَعَلْتُ فِي الْإِسْلَامِ مِثْلَهُ

حکیم بن حزامؓ اووے یا رسول اللهﷺ څو کارونه دی چه ما به د جاهلیت په زمانه کښې کول. هشام اووے یعنی نیک کار رسول اللهﷺ اوفرمایل اسلام راوړو تا په هغه نیکو باندے کومے چه تا کولے. ما اووے یا رسول اللهﷺ! نو قسم په خدائے بیا چه ما څومره نیک کارونه د جاهلیت په زمانه کښې کړی دی. د هغے نه به یو هم نۀ پریږدم. دے ټولو لره به دومره د اسلام په حالت کښې په ځائے راوړوم (ځکه چه د جاهلیت زمانه د اسلام د وخت نه مخکښې نۀ شی د نیکو په زیات والی کښې)

عَنْ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ حَكِيمَ بْنَ حِزَامٍ

د عروه بن زبیر نه روایت دے. حکیم بن حزام د جاهلیت په زمانه کښې

دکافر هر یو طهارت صحیح دے ... وی یا اودس وی یا تیمم وی. او د اسلام د راوړلو نه پس په هغه پاکوالی سره مونځ کول

...ورل یو داسے لوے نعمت دے. چه خدائےپاک په مقابله کښې ددے بل نعمت نۀ دے
...سره فائدے حاصلیږی لرے نۀ دی او د کافر نیک عملونه چه کوم ضائع کیږی نو
...وی او اعتبار اخرے خاتمے لره دے بیا چه هر کله خاتمه نیکه شی او انسان کفر
...ضائع کوی او د هغۀ په نیکو کارونو باندے به ضرور ثواب ورکوی دویمه دا
...نه پس لغهو کولے نو خلقو ته به خفګان وو او د اسلام د طرف نه به نے رغبت
...د اسلام شوق پیدا شی په دے وجه سره هغه اوفرمایل چه د اسلام په روړو
...هیڅ کله نۀ ختمیږی سبحان الله د خداوند کریم عنایت او محبت د خپلو
هدایت اوکړی. او زمونږ او د ټولو مسلمانانو خاتمه د په خیر کړی اے

أعتق في الجاهلية مائة رقبة وحمل على مائة بعير ثم أعتق في الإسلام مائة رقبة وحمل على مائة بعير ثم أتى النبي صلى الله عليه وسلم فذكر نحو حديثهم

سل غلامان آزاد کړي وو او سل اوښان ئے د سورلئ دپاره د خدائے په کار کښې ورکړي وو. بیا هغه د اسلام په حالت کښې هم سل غلامان آزاد کړل او سل اوښان ئے د سورلئ دپاره د خدائے پاک په لاره کښې ورکړل دده نه پس رسول الله ﷺ له راغے او بیان ئے کړو حدیث لره په دے شان سره لکه څنګه چه پورته ذکر کړے شوے دے[1]

بَاب صِدْقِ الْإِيمَانِ وَإِخْلَاصِهِ

باب : د ایمان رښتنوالے او د خلوص بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ شَقَّ ذَلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوا أَيُّنَا لَا يَظْلِمُ نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ هُوَ كَمَا تَظُنُّونَ إِنَّمَا هُوَ كَمَا قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے هرکله چه دا آیت نازل شو. الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ د آخره پورے. یعنی کوم خلقو چه ایمان راوړو بیا ئے د خپل ایمان سره ظلم اونۀ کړو (یعنی په ګناه کښې اخته نۀ شو) هغوی لره اَمن دے او دغه کسان لار موندونکی دی نو ډیر ګران تیر شو داآیت د رسول الله ﷺ په صحابو باندې هغوی اووے یا رسول الله ! په مونږ کښې څوک داسے دے چه هغه ظلم نۀ کوی په خپل ځان باندے (یعنی ګناه نۀ کوی) رسول الله ﷺ اوفرمایل. ددے آیت دا ملطب نۀ دے څنګه چه تاسو خیال کوئ بلکه د ظلم نه مراد هغه دے. کوم چه حضرت لقمانؑ خپل ځوئ ته اووے. اے خما بچیه ! بیشکه شریک مۀ ګرځوه د الله سره بیشکه شرک ډیر لوئے ظلم دے[2]

---

[1] نوویؒ وائی حکیم بن حزام مشهور صحابی دے هغه په کعبه کښې دننه پیدا شوے وو دا فضیلت بل چا ته نۀ دے ملاو شوے. او بوه عجیبه خبره داده چه هغه د شپیتو کالو پورے ه جاهلیت کښې تیر کړی وو بیا د شپیتۀ کالو پوری د اسلام په حالت کښې په مدینه منوره کښې وفات شو نو د اسلام په حالت کښې د شپیتۀ کاله ژوند نه غرض دا دے چه د اسلام په زمانه کښې د شپیتو کالو پورے ژوندے وو

[2] نو د ظلم نه مراد شرک دے. په دے صورت کښې به د آیت دا معطلب وی چه کوم خلق ایمان راوړی بیا هغوی شرک او نۀ کړی نو هغوی لره امن دے اګر چه هغه په نورو ګناهونو کښې چه د شرک نه کم وی مبتلا وی. دصحیح بخاری په روایت کښې دادی چه هر کله آیت نازل شو نو د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم صحابو اووے چه په مونږ کښې څوک داسے دے چه هغه په خپل نفس باندے ظلم نۀ وی کړے کله چه خدائے پاک دا ایات نازل کړل چه شرک لوئے ظلم دے. نو صحابو د ظلم نه مراد هر یو ګناه اوګنړلو ددے وجے

بَاب تَجَاوُزِ اللهِ عَنْ حَدِيثِ النَّفْسِ وَالْخَوَاطِرِ بِالْقَلْبِ إِذَا لَمْ تَسْتَقِرَّ وَبَيَانِ أَنَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى لَمْ يُكَلِّفْ إِلَّا مَا يُطَاقُ وَبَيَانِ حُكْمِ الْهَمِّ بِالْحَسَنَةِ وَبِالسَّيِّئَةِ

باب : په زړهٔ کښې چه کومے خطرے راځی د کومے پورے چه هغه قرارے اونیسی په هغے باندے مواخذه نهٔ وی او الله تعالی دومره غوند تکلیف ورکړے دے څومره چه طاقت وی او د نیکئ او د گناه اراده څهٔ حکم لری

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ قَالَ فَاشْتَدَّ ذٰلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ بَرَكُوا عَلَى الرُّكَبِ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ كُلِّفْنَا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا نُطِيقُ الصَّلَاةَ وَالصِّيَامَ وَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه هر کله په رسول اللهﷺ باندے دا آیت نازل شو. لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ د آخره پورے یعنی الله پاک لره دی هغه څهٔ چه په آسمانونو او زمکه کښې دی او کهٔ چرے تاسو ښکاره کوئ یاپټوئ هغه خبرے چه په نفسونو ستاسو کښې دی حساب به کوئ الله پاک ستاسو سره دهغے پس او به بخښی هغه چا لره چه رضا شی. او په عذاب به کړی هغه چا لره چه رضا شی. او اللهؑ په هر څیز باندے قدرت لری. نو گرانه شوه دا خبره د حضرتﷺ په صحابوؓ باندے او هغه حضرتﷺ له راغلل او کیناستل په

نه د! ایات په هغوی باندے بوجه شو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ورته اوفرمایل چه مراد د ظلم نه مطلق ظلم نهٔ دے بلکه خاص یو ظلم چه هغه د هر څهٔ نه لوئے دے لکه شرک څنګه چه لقمان حکیم صاحب خپل خوئ ته اووے چه شرک لوئے ظلم دے خطابی وائی په صحابو باندے دا ایت په دے وجه گران تیر شو چه د ظلم ظاهری معنی داده د خلقو حق پټول او په گناهونو کښې مبتلا کیدل هغوی: دے خیلا اوکړو چه دا ظاهری معنے مراد ده او اصلی معنی د ظلم داده چه یو څیز لره د هغه د ځائے نه اوچتول او په بل ځائے کښې ایخودل بیا چه کوم سړی د الله پاک نه سوا د بل چا عبادت اوکړو نو هغه زیات شو په ظلم کښې د نورو ظالمانو نه دد ے حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه سوا : کفر نه په بل گناه کولو سره سړے نهٔ کافر کیږی او لقمان یو ډیر لوئے حکیم تیر شوے دے او اختلاف کړے دے عالمانو چه هغه نبی وو یا نهٔ وو امام ابو اسحق ثُعلبی وائی چه هغه په اتفاق سره حکیم وو مگر عکرمه وائی چه هغه نبی هم وو بل چا هغهٔ ته نبی نهٔ دی ویلی او د لقمان د خوی نوم چه هغوی ورته نصیحت کړے وو آنعم وو او بعضو ویلی دی چه مشکم وو والله اعلم

الْجِهَادَ وَ الصَّدَقَةَ وَ قَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيْكَ هٰذِهِ الْآيَةُ وَلَا نُطِيقُهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُرِيدُونَ أَنْ تَقُولُوا كَمَا قَالَ أَهْلُ الْكِتَابَيْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا بَلْ قُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ فَلَمَّا اقْتَرَأَهَا الْقَوْمُ ذَلَّتْ بِهَا أَلْسِنَتُهُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ فِي إِثْرِهَا آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ فَلَمَّا فَعَلُوا ذٰلِكَ نَسَخَهَا اللهُ تَعَالَى فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا قَالَ نَعَمْ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا قَالَ نَعَمْ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ قَالَ نَعَمْ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِينَ قَالَ نَعَمْ

زنګونانو باندے او اوئے ویل چه یا رسول الله ﷺ! مونږ ته حُکم اوشود هغه کارونو د کولو چه طاقت ئے لرو مونږ لکه مونځ، روژه ، جهاد ، صدقه. اوس په تا باندے دا آیت نازل شو. او په دے باندے د عمل کولو په مونږ کښں طاقت نشته (یعنی په خپل زړهٔ باندے زمونږه زور نهٔ چلیږی چه بدے او شیطانی وسوسے ورته نهٔ پریدو) واوریدل مونږه او نافرمانی به ئے اوکړه (یعنی مونږ ستا حکم واوریدؤ خو مونږ په دے باندے عمل نهٔ کوو. بلکه داسے وایئ واوریدو مونږه او قبول کړو مونږه او بخے مونږ لره یا ربه زمونږ او مونږ لره تلل دی. ددے په اوریدو سره صحابو ؓ اووے واوریدل مونږه او قبلو ل کړل مونږه او اوبخے مونږ لره اے زمونږه مالکه. او ستا طرفته مونږ لره تلل دی. هر کله چه خلقو دا اووے. او د خپلو ژبو نه ئے اوویسته. د هغے نه پس دا آیات نازل شو. آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ د آخره پورے. یعنی ایمان راوړے دے رسول ﷺ په هغه څهٔ باندے چه نازل شوے دے دهٔ ته. د طرفه د رب خپل نه او ایمان روړے دے مومنانو هم ټولو ایمان راوړے په الله ﷻ باندے او د هغه په فرښتو باندے د هغهٔ په کتابونو باندے او د هغهٔ په رسولانو باندے مونږه. داسے نهٔ کوو چه یو رسول لره منُو او یو لره نهٔ منُو (لکه چه یهودو او نصرا ؤ کول او اووے هغوی مونږه واوریدل او منُو ئے اوبخے مونږ لره اے زمونږ مالکه تالره زمونږ درتلل دی. هر کله چه

هغوی داسې اوکړل نو الله تعالی (په خپل فضل اوکرم سره) هغوی ته آیت لره (یعنی وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ لره بیان کړو او دا آیت نازل شو الله تعالی چالره تکلیف نه ورکوی مګر د هغهٔ د بوجه وی اے زمونږ مالکه مهٔ نیسه مونږ لره که زمونږ نه خطا اوشی یا مو هیر شی مالک اوفرمایل ' بنه اے زمونږ مالکه مهٔ باره وه په مونږ باندے داسې بوجهـ لکه چه تا بار کړے وو په وړمبو خلقو زمونږ نه مخکښې په یهودو باندے بیا د هغوی نه او نهٔ شوه هغوی نافرمانی اوکړه) مالک اوفرمایل بنه او معاف کړه زمونږ خطایانے او اوبخے مونږ لره او رحم اوکړے په مونږ باندے تهٔ زمونږ مالک ئے مدد اوکړه زمونږ په هغه خلقو باندے چه کافران دی پروردګار او فرمایل بنه[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ

د ابن عباس ؓ نه روایت دے هر کله چه دا ایات نازل شو وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ نو د خلقو په زړونو کښې هغه خبره

---

[1] امام ابوعبد الله مازری ؒ وائی دا آیت په هغو باندے ګران شو ولے چه هغه پوهه شو چه زمونږ نه به مواخذه کیږی د هغه وسوسو کومے چه خود بخود په زړهٔ کښې تیریږی او مونږ ته د هغے د لرے کولو وطاقت نشته بیا دا تکلیف د طاقت نهٔ سوا شو او هغه جائز دے عقلاً لیکن اختلاف دے چه آیا په شریعت کښې دد ے حُکم شوے یا نهٔ دے یعنی خداوند کریم په خپل فضل سره د خپلو عاجزو بندګانو تولے دُعاګانے قبولے کړے او د سختو نه سخت احکام کوم چه ددوی نه نهٔ شو کیدلے د اسلام نه ئے اوچت کړل او دین ئے اسـر کړو او دا حکم ئے هم اوچت کړو کوم چه ئے مخکښې ورکړے وو چه د زړهٔ په خیال به مؤاخذه وی اوس کهٔ چرے د چا په زړهٔ کښې د ګناه خیال راشی نو د کومے پوری چه ئے هغه ګناه کړے نهٔ وی لیکلے نهٔ شی امام مازری ؒ وائی وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ په منسوخ کیدو کښې دا اعتراض دے چه نسخ هلته کیږی هر کله چه په دویم حکم کښې او په وړمبی حکم کښې جمع نهٔ شی کیدے او دلته جمع ممکنه ده په دے شان سره چه وړمبے ایات عام وی د هر یو قسم وسوسو او خیالونو لره کوم چه په اختیار کښې دی مګر په کوم صورت کښې چه صحابو په وړمبی آیت سره هغه خیال ګنړلے دے کوم چه په اختیار کښې نهٔ دے په دغه صورت کښې البته دویم ایت دد ے ناسخ شو قاضی عیاض ویلی دی د نسخ نه څهٔ امر مانع نهٔ دے هر کله چه راوی پخپله نسخ نقل کړے ده بعضو ویلی دی د نسخ نه مراد د هغوی د شُبهے لرے کول دی کومه شبهه چه هغو ته د وړمبی آیت نه شوے وه او ګرانه شوے وه هغه په هغوی باندے اوس په دویم آیت سره د هغو اطمنان راغے چه مواخذه د طاقت نه سوا نهٔ وی امام واحدی ویلی دی د آیت په منسوخ کیدو کښې اختلاف دے او د محققینو قول دا دے چه هغه محکم دے منسوخ نهٔ دے (نووی ؒ مختصراً)

يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ قَالَ دَخَلَ قُلُوبَهُمْ مِنْهَا شَيْءٌ لَمْ يَدْخُلْ قُلُوبَهُمْ مِنْ شَيْءٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَسَلَّمْنَا قَالَ فَأَلْقَى اللهُ الْإِيمَانَ فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا قَالَ قَدْ فَعَلْتُ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا قَالَ قَدْ فَعَلْتُ وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا قَالَ قَدْ فَعَلْتُ

پریوته چه هغه په څهٔ څیز سره نهٔ وه پریوتے (یعنی ډیره یره ئے پیدا شوه) بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل اووایئ: مونږه واوریدل او قبول مو کړل او اطاعت مو اوکړو. بیا خدائے پاک ایمان د هغو په زړونو کښې واچولو او نازل ئے کړو دے ایت لره لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا د آخره پورے یعنی الله طاقت نهٔ ورکوی چاته مگر د هغهٔ د طاقت په موافق کوم چه هغه کوی د خان دپاره نیک کار د هغے ثواب هغهٔ لره دے. او څوک چه گناه کوی د هغے بوجه به د هغهٔ په سر وی اے زمونږ مالکه مهٔ نیسه مونږ لره په هیره او په خطا کښې مالک اوفرمائیل ما دغه شان اوکړل اے زمونږ مالکه مهٔ باروه په مونږ باندے بوجه لکه چه تا بار کړے وو په ورمبو خلقو باندے. مالک او فرمایل ما دغه شان اوکړل. او اوبخی مونږ لره او رحم اوکړے په مونږ باندے ته زمونږ مالک ئے. مالک اوفرمائیل ما دغه شان اوکړل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ لِأُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَا لَمْ يَتَكَلَّمُوا أَوْ يَعْمَلُوا بِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله معافی کړے ده خما امت ته په هغے خیالونو باندے (دگناه) چه هغه په زړهٔ کښې راشی. د کومے پورے چه هغه په ژبه سره نهٔ وی ویلی شوی یا په هغے باندے عمل شوے نهٔ وی[1]

---

[1] به سراج الوهاج کښې دی چه ددے ایت نه معلومیږی چه د هر قسم بد خیال او اراده کومه چه په زړهٔ کښې پیدا شی. هغه معاف ده. ولے چه د ما حرف په حدیث کښې عام دے هر یو خیال او اراده برابره خبره ده چه هغه خیال او اراده په زړهٔ کښې کلک شوے وی یا نه وی کهٔ د لږ وخته پورې وی یاد ډیرے مودے پورې په هر شان سره هغه معاف شوے دے ددے امت دپاره. او دا شرف خاص کړے دے الله په دے امت باندے په خلاف د ورمبو امتونو چه د هغوی نه د زړهٔ په خیال هم مواخذه وه نو زمونږ دپاره څهٔ قسم خیال چه وی او هغه په زړهٔ کښې وی هغه معاف دے ددی خیال په وجه سره به انسان نهٔ مرتد وی او نهٔ گنهگار. نهٔ څهٔ عبادت ددے په وجه سره باطلیږی اونهٔ څهٔ طلاق یا عتاق په دهٔ باندے پریوځی او نهٔ څهٔ بل څهٔ قسم معامله نافذ کیږی او دلالت کوی په دے باندے هغه احادیث چه هغه په دے باب کښې راځی اود هغے الفاظ ډیر دی اوس چه کوم د بعضے علماؤ نه منقول دے چه خیال په دوه قسمه دے یو خو هغه خیال چه هغه په زړهٔ کښې راغے او لاړو تیر شو په دے باندے مواخذه نشته او دغه خیال ددے حدیث نه مقصود دے او یو هغه خیال دی چه هغه په زړهٔ کښې کلک شو او مضبوط شو او د عقیدے په طور باندے شو په هغے به مواخذه وی او دغه

مقصود نۀ دے دد ے حديث نه خو دد ے فرق څۀ دليل نشته. نۀ د داسے تاويل ضرورت د ے ولے چه حديث عام د ے شامل د ے دواړه قسم خيالونو لره او اگر كۀ خيال په زړۀ كښ كلك هم شى خو بيا هم آخر هغه خيال وى په ظاهر كښ د هغے وجود د بيا به عمالو په شان نۀ وى نو بيا به دد ے مواخذه په څۀ وجه سره وى. نو دد ے تاويل او د تكليف څۀ وجه نشته او د كلام نبوى ﷺ د خاص كولو څۀ علت نشته او څۀ ضرورت نشته چه په الله پورى هغه خبره اوتړى چه هغه خبره هغه نۀ وى فرمايلى او په بنديگانو باند ے لازم كړى او په هغو باند ے مواخذه او لرى د هغه امر نه چه د شريعت د طرفنه معاف د ے. اوبعضے فرق كونكو داويلى دى چه كوم خيال په زړۀ كښ كلك شى په هغے باند ے خو عمل اوكړلے شو اوس هغه په شوى عمل كښ داخل د ے كوم چه مقصود د ے دد ے حديث نه او دا قول د عقل نه ډير لر ے د ے ولے چه عمل او تكلم خو د خيال نفسى مقابل دى او دا دواړه د عفو ے حدونه دى او څوك د عربو اوسيدونكے د د ے حديث نه دا مطلب نه گڼرى كوم چه د ے خلقو گڼرلے د ے او دد ے نه معلومه شوه چه كومو خلقو دا فرق كړ ے د ے د هغوى قول باطل د ے او د هغوى سره څۀ دليل نشته دى بلكه صرف رائے د ے چه د هغے څۀ ضرورت نشته او هر كله چه رښتونے رسول ﷺ مونږ ته بيان اوكړو چه الله جل شانه په څۀ قسم خيال باند ے مواخذه نۀ كوى. د كومے پور ے چه په هغے باند ے عمل اونه كړى شى نو قصد او عزم او اعتقاد او نيت كۀ چر ے فرض كړ ے چه د خيال نۀ زيات دى بيا هم په د ے باند ے مواخذه نۀ وى ولے چه دا څيزونه عمل نۀ د ے او مواخذه په عمل سره وى په د ے كښ څوك اهل زبان يا د اهل شرع نه خلاف نۀ كوى او دد ے حديثونو نه دا ثابتيږى چه مواخذه نشته د ے مگر په عمل سره او لونے دليل هغه د ے كوم چه د ابن عباس په حديث كښ د ے چه كۀ يو بنده اراده اوكړى د بدئ او بيا هغے لره او نۀ كړى نو الله پاك ددۀ په عمل نامه كښ يوه نيكى اوليكى او د ابوهريره نه روايت د ے كۀ بدئ لره نۀ كوى نو ددۀ دپاره يوه نيكى اوليكى ولے چه دد ے نه دا معلوميږى چه كۀ د بدئ اراده اوكړى اوبه هغے باند ے عمل او نۀ كړى نو د يو ے نيكئ ثواب ملاويږى او دا امر معلوم د ے چه چا اراده اوكړه د بدئ يائے عزم اوكړو يائے قصد اوكړو او هغه په دغه بدئ عمل او نۀ كړو بيا به دۀ ته د يو ے نيكئ ثواب ملاويږى په ځائے دد ے چه د بدئ مواخذه شى. په د ے صورت كښ كومو خلقو چه په عزم او اراده او نيت كښ فرق كړ ے د ے دد ے نه څۀ فائده نشته او بعضے اهل كلامو دا ويلى دى چه په عزم به مواخذه او عتاب وى مثلاً څوك عزم اوكړى د چا پيغمبر د توهين يا د يو آسمانى كتاب د سپاكاوى نو هغه د عزم كولو سره كافر شو اگر چه څۀ فعل ئے نۀ وى كړ ے او څۀ خبره ئے د ژبے نه ويستے نۀ وى نو دا گمان د هغوى غلط د ے. په د ے باند ے څۀ دليل عقلى او نقلى نشته ولے چه هغه غايت كوم چه د مواخذ ے دپاره قرار كړ ے شو ے د ے عمل يا تكلم د ے او داسے عمل كولو والانۀ عمل اوكړو نۀ تكلم نو دا ويل چه په د ے سره مواخذه وى بلا دليل دى بلكه مخالف د ے د دليل صريح او واضح نه او هغه خلق څوك چه داسے وائى نو هغوى ته يوه شُبهه اوشوه او هغه دا چه دغه سړى عزم اوكړو د هغه امر چه هغه جائز نۀ دى او دا سبب د ے د مواخذ ے حالانكه دا د هغوى غلطى ده خكه چه دۀ بيشكه عزم اوكړو د هغے چه هغه جائز نۀ د ے هغه كار د ے د كوم چه دۀ عزم كړ ے وو نۀ پخپله دا عزم يوه شيطانى وسوسه ده خكه د شريعت د طرفنه معاف د ے د كومے پور ے چه پر عمل يا تكلم او نۀ شى او صرف عزم نۀ عمل د ے نۀ تكلم په اتفاق د خاوندانو د لغت او خاوندانو د شرعے او دد ے حديث سلف صالحينو دغه معنے كړى ده او الله د رحم اوكړى په امام شافعى باند ے ولے چه هغوى په خپل كتاب كښ چه د هغے نوم اُمّ د ے ليكلى دى. چه كوم خيال بيان نۀ شى هغه د زړۀ وسوسه ده چه معاف شو ے ده د بنيادمو نه او چا چه په د ے كښ تاويل كړ ے د ے هغه په ثواب نۀ دى د داسے احاديثو تاويل كونكى په صواب باند ے نۀ دى سو دد ے ټول تقرير نه دا معلومه شوه چه په د ے امت هغه تنگى كوم چه په وړمبو امتونو باند ے وو يعنى د زړۀ په عزم باند ے به د هغو نه مواخذه كيد ے شوه او د زړۀ په خيالونو باند ے خواه چه هغه مضبوط شوى وى يا نۀ وى مضبوط شوى او د ډير ے مود ے پورى وى يا د لږ ساعت پورى دا ټول قسم خيالات مونږ ته معاف شوى دى. او په وړمبو باندى به دد ے په وجه سره عذاب وى په د ے

مسئله کښې زمونږه تقریر اوږد شوے دے. او پوره بحث ددۀ په کتاب "دلیل الطالب علٰی أرجح المطالب" کښې داسے دے. چه دغه شان به په نورو کتابونو کښې تا سو ته نۀ ملاویږی انتهٰی نوویؒ ویلی دی د قاضی ابوبکر بن الطیّب مذهب دادے چه کوم سړے د گناه اراده په زړۀ سره اوکړی او خپل نفس لره په هغې باندې مضبوط او مستعد کړی نو گنهگار به وی. او دا حدیث او ددے قسم نور حدیثونه محمول دی په هغه خیالونو کښې چه هغه په زړۀ کښې تیر شی او ختم شی او مضبوط نۀ شی دے ته هَمّ وائی او عزم کښې فرق دے او په حدیث کښې د هَمَّ لفظ راغلے دے دا مذهب دے د قاضی ابوبکر او مخالف دی ددے اکثر فقهاء او محدثین او د هغو دلیل ظاهر دی قاضی عیاض ویلی دی اکثر سلف او اهل علم فقهاء او محدثین د قاضی ابوبکرؒ د مذهب په طرف تلی دی ولے چه د نورو حدیثونه معلومیږی چه د زړۀ په اعمالو باندے به مواخذه وی لیکن هغوی ویلی دی چه دا مواخذه په هغه بدئ باندے نۀ وی چه د هغې قصد دا وو ولے چه هغه بدی دۀ کړے نۀ ده بلکه پخپله به په دۀ باندے وی خکه چه دا عزم پخپله یوه بدی ده بیا کۀ چرے دۀ دے گناه لره اوکړه نو دویم گناه به پرے بلې لیکلے شی اوس کۀ چرے بدی نې پریخوده نو یوه نیکی به نې لیکلے شی لکه چه په حدیث کښې وارد دی ولے چه دۀ پریخوده د الله د یرے نه او مجاهده نې اوکړه د نفسِ امّاره سره او دا نیکی ده لیکن هغه هَمّ کوم چه معاف دے او چه په هغې کښې بدی نۀ شی لیکلے هغه وسوسه ده چه هغه بے اختیاره په زړۀ کښې غورځیږی نۀ د هغې عزم وی نۀ په نفس کښې مضبوطیږی او بعضے متکلمینو په دے کښې اختلاف لیکلے دے چه کۀ چرے دۀ بدی پریخوده د خلقو د شرم د وجے نه نۀ د خدائے پاک د یرے نه نو دۀ ته به د نیکئ ثواب نۀ ملاویږی خکه چه دۀ خو بدی پریخودے ده د حیاء نه. نۀ د الله د یرے نه او دا قول ضعیف دے ددے څۀ دلیل نشته دے ختم شو کلام د قاضی عیاضؒ امام نوویؒ وائی د قاضی عیاضؒ کلام ډیر ښۀ دے خکه چه د شرعے او نصوصو د لالت کوی په دے باندے چه کوم عزم په زړۀ کښې کلک شو په هغې باندے به مواخذه وی الله تعالٰی فرمائیلی دی کوم خلق چه غواړی بدی خوروِل په مسلمانانو کښې هغوی له درد ناک عذاب دے او فرمائی بچ شئ د گمان نه ولے چه بعضے گمان گناه وی او په دے باب کښې ډیر داسے آیتونه دی او په نصوصِ شرعیه او اجماع علماء سره دا امر مُسلَّم دے چه حسد کول او مسلمانانو لره حقیر گڼرل او دهغوی بد خوا کیدل حرام دی حالانکه دا ټول د زړۀ عملونه دی د اردو کتاب مترجم وائی چه د مولنا ابو الطیب دا تحقیق ډیر ښکلے دے او موافق د ظاهر حدیث دے او یو جماعت د سلفو په دے طرف تلے دۓ او امام نوویؒ او اکثر متأخرینو ددے نه خلاف کړے دے په دلیل د دویم ایت او احادیث او زۀ پناه غواړم په الله سره د غلط او باطل خیال نه او دُعا کوم چه الله عزوجل د توفیق راکړی په دے مسئله کښې د ثواب بیانولو خما په نزد صحیح دادہ چه خیال په دوه قسمه دے یو خو خیال د هغه بدئ دے چه د هغې کول په لاسونو سره یا ویل په ژبے سره په شرعَ کښې منع شوی دی لکه غیبت غلا یا زنا یا شراب خمر ددے گناهونو کۀ څوک قصد یعنی اراده اوکړی بیا خواه کۀ دغه اراده په زړۀ کښې کلکه شی یا کلکه نۀ شی په هر شان به ددۀ نه مواخذه نۀ وی ؛ کومے پورے چه هغه گناه او نۀ کړی او څوک چه نې نۀ کوی د الله د یرے نه ددے نه قلار شی نو د هغۀ دپاره یوه نیکی اولیکلے شی او دا منطوق دے د ابوهریرهؓ د حدیث کوم چه وړاندے راغی او یو هغه خیال چه هغه پخپله په شرع کښې یو گناه قائمه شوے ده لکه د شرک اعتقاد ، حسد ، بغض د مسلمانانو بدخواهی ،کبر ، لوئ نخوت ، حرص، طمع ددے قسم خیال هر کله چه په زړۀ کښې کلک شی او د عقیدے په شان شی نو دا گناهونه دی په دے باندے به مواخذه وی البته کۀ چرے په زړۀ کښې تیر شی او لاړ شی ختم شی نو د خداوند کریم نه اُمید دے چه د هغې مواخذه اونۀ کړی او کۀ چرے دا خیال گناه نۀ وے نو حضورﷺ به ددے نه پناه نۀ غوښتله او د نفس د پاکولو دُعا به نې نۀ فرمایله او یوه لویه خرابی دادہ چه کۀ چرے ددے قسم خیال گناه نۀ وے او په دے باندے مواخذه نۀ وے نو د شرک اعتقاد لرونکے یا د الله د صفاتو نه انکار کونکے یا منافق چه هغه په ژبه سره څۀ نۀ ویلے مواخذه دار به نۀ وو اگر چه د هغه خاتمه هم په شرک او کفر او نفاق باندے وی حالانکه ددے یو مسلمان قائل نۀ شو او راز په دے کښې دادے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ تَجَاوَزَ لِأُمَّتِي عَمَّا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَالَمْ تَعْمَلْ أَوْتَكَلَّمْ بِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ اوفرمایل! چه الله جل جلاله اوبخلے خما د امت د زړهٔ خبرو لره د کومے پورے چه نے په هغے عمل نهٔ وی کړے یائے په ژبه سره نهٔ وی ویلی.

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د قتادهؓ نه دویم روایت هم دغه شان دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا هَمَّ عَبْدِي بِسَيِّئَةٍ فَلَا تَكْتُبُوهَا عَلَيْهِ فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی الله جل شانه فرمائی هر کله چه خما بنده د بد کار اراده اوکړی (په زړهٔ کښ) نو مهٔ لیکئ هغے لره. بیا کهٔ چرے هغه بد اوکړی نو یو بدلیکئ؛ او چه

چه یو خو وسوسه ده چه په زړهٔ کښ راشی او تیره شی. دا داسے ده لکه په بهیدلو اُوبو باندے پلیتی پریوته او اوبهیده په دے سره د اُوبو صفت بدل نهٔ شو او هغه د پاکو نه پاکے او د صفاؤ نه صفا دی. او یو اعتقاد دے چه یو خیال په زړهٔ کښ راشی او کلک شی او مضبوط شی. خواه انسان هغه د خُلے نه اوباسی یائے او نهٔ باسی. بیا دا خیال د نفس صفت کیدے شی او په اعمالِ قلبیو کښ شمارلے شی دے مثال داسے دے لکه چه په ولاړو اُوبو کښ پلیتی اوغورځیږی او هغه ناپاکے او بدبویه کړی. او دا خیال په حقیقت کښ جوارح او د اعمالو پشان په خارج کښ موجود دے ولے چه هغه صفت دے د نفس او نفس په خارج کښ موجود دے او آخر زړهٔ هم د ژبے په شان یو اندام دے بیا د ژبے نه وتلے شوے خبره خو د په خارج کښ موجود وی او د زړهٔ صفت د موجود نهٔ وی دا څنگه کیدے شی پس په احادیثو کښ چه کوم د لَمْ تَعْمَلْ لفظ راغلے دے ددے نه دا خیال اووتو ولے چه دا عمل قلب دے اوس کهٔ چرے څوک اعتراض کوی چه په دے صورت کښ د غلا یا د زنا خیال هم کهٔ چرے مضبوط شی نو هغه به هم د نفس صفت کیدے شی بیا پکار ده چه په دے باندے هم مواخذه وی حالانکه پورته تاسو ویلی دی چه ددے گناهونو په خیال باندے مواخذه نشته نو مونږ به دا جواب ورکوو چه بیشکه کهٔ چرے دا خیال کلک شی نو د نفس به یو صفت وی خو شرع د زنا او د غلا د مفهوم خیال نهٔ دے ایخودے بلکه د جوارح نه چه کوم افعال کولے شی هغے ته نے زنا او غلا ویلے ده په خلاف د بے اعتقادئ او بے دینئ او غرور او نفاق او حسد او بخل سره چه دهغے مفهوم د نفس صفاتو لره قائم کړو. او هر کله چه د زنا او غلا د مفهوم عمل جارح شو په دے صورت کښ به ددے عمل انتساب د نفس طرفته نهٔ وی ولے چه یو عمل د دوو عاملانو سره قائمیدے نهٔ شی. نه یو عرض په دوو موضوعاتو (محل) کښ موندلے شی. پس په هغه گناهونو کښ د مَالَمْ تَفْعَلْ نه به د هغے عمل مراد وی. یعنی عمل جارحه او د کومے پورے چه هغه گناه په جارح سره نهٔ کوی نو دهغے په خیال باندے خواه هغه چه په څهٔ شان لره وی مواخذه به نهٔ وی اوس فرضکړه یو سړے د اسلام د راوړو نه پس گونگے یعنی چاړا شو او هغه خپل زړهٔ د اسلام د عقیدو نه واړه وو. او د کفر په عقیدو باندے نے کلک کړو لیکن د کفر څهٔ عمل نے نهٔ کوو او ژبے خو هغه کار نهٔ کوو چه د هغے نه د کفر څهٔ کلمه وتلے وے. نو ولے ددهٔ نه به مواخذه نهٔ وی او ددهٔ د کفر په اعتقاد باندے به عذاب نوی؟ حالانکه د ظاهر حدیث نه چه کومه معنی اوخی. ددے په وجه پکار ده چه مواخذه نهٔ وی مگر د سوچ کولو نه معلومیږی چه پخپله حدیث په دے خبره باندے ناطق دے چه ددهٔ نه نهٔ دی. بلکه ددے وجے نه دی چه ژبه ددهٔ چاړے شوی ده او څهٔ چه هغه ویل نو د کفر خبرے به نے د خُلے نه وتلے الله تعالی د بچ کړی مونږ ره د هر قسم باطلو وسوسو او خیالونو نه او پاک د کړی زمونږ نفس لره د خراب اعتقاد او خرابو صفاتو نه امین یا رب العلمین

بِسَيِّئَةٍ وَإِذَا هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا فَاكْتُبُوهَا حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا عَشْرًا

کله د نیکئ اراده اوکړی لیکن کړے ئے نۀ وی نو یوه نیکی د هغۀ دپاره اولیکئ او کۀ چرے اوکړی نو لس نیکئ اولیکئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا هَمَّ عَبْدِي بِحَسَنَةٍ وَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبْتُهَا لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا كَتَبْتُهَا عَشْرَ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَإِذَا هَمَّ بِسَيِّئَةٍ وَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ أَكْتُبْهَا عَلَيْهِ فَإِنْ عَمِلَهَا كَتَبْتُهَا سَيِّئَةً وَاحِدَةً

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله جل شانه فرمائی هر کله چه خما بنده اراده اوکړی د نیکئ او بیا اونۀ کړی هغے لره. نو زۀ د هغۀ دپاره یوه نیکی اولیکم. او کۀ چرے هغے لره یعنی نیکئ لره نو د یوے نیکئ په بدله کښ دلسو نیکو نه د اووه سوو نیکو پوری لیکم. او هر کله چه اراده اوکړی د بدئ اوکړے ئے نۀ وی هغے لره. نو هغه بدی زۀ نۀ لیکم او کۀ چرے اوکړی هغے بدئ لره نو یوه بدی لیکم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا تَحَدَّثَ عَبْدِي بِأَنْ يَعْمَلَ حَسَنَةً فَأَنَا أَكْتُبُهَا لَهُ حَسَنَةً مَا لَمْ يَعْمَلْ فَإِذَا عَمِلَهَا فَأَنَا أَكْتُبُهَا بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا وَإِذَا تَحَدَّثَ بِأَنْ يَعْمَلَ سَيِّئَةً فَأَنَا أَغْفِرُهَا لَهُ مَا لَمْ يَعْمَلْهَا فَإِذَا عَمِلَهَا فَأَنَا أَكْتُبُهَا لَهُ بِمِثْلِهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ رَبِّ ذَاكَ عَبْدُكَ يُرِيدُ أَنْ يَعْمَلَ سَيِّئَةً وَهُوَ أَبْصَرُ بِهِ فَقَالَ ارْقُبُوهُ فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ بِمِثْلِهَا وَإِنْ تَرَكَهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ حَسَنَةً إِنَّمَا تَرَكَهَا مِنْ جَرَّايَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ فَكُلُّ

ابو هریرهؓ حضرت محمد ﷺ نه څو حدیثونه بیان کړل په هغے کښ یو دا وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هر کله چه خما بنده په زړۀ کښ نیت کوی د نیک کار کولو نو د هغۀ دپاره یوه نیکی اولیکم د کومے پورے چه هغه هغه نیکی نۀ وی کړے. بیا کچرے اونے کړو هغے لره. نو زۀ د هغۀ دپاره لس نیکئ (د یوے په بدله کښ) لیکم. او هر کله چه په زړۀ کښ نیت کوی د بدئ کولو نو زۀ هغه لره اوبخم هر کله چه هغه بد نۀ وی کړی او هر کله چه اوکړی نو یوه بدی اولیکم اوفرمایلی دی رسول الله ﷺ فرښتے وائی اے پروردگاره دا ستا بنده دے بدی کول غواړی. حالانکه پروردګار د هغوی نه زیات وینی خپل بنده لره الله تعالی فرمائی ګورئ ورهت کۀ چرے هغه بد کوی نو هغه هم هغه شان یوه لیکئ او کۀ چرے اونۀ کړی (او قلار شی ترے) نو د دۀ دپاره یوه نیکی اولیکئ. خکه چه دۀ پریخوده بدئ لره خما د ویرے نه او فرمایلی دی رسول الله ﷺ هر کله چه په تاسو کښ د چا اسلام غوره شی (یعنی خالص اوربښتونے د نفاق نه خالی شی) بیا

حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَكُلُّ سَيِّئَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ بِمِثْلِهَا حَتَّى يَلْقَى اللهَ عَزَّ وَجَلَّ

چه هغه څه نیکي کوي د هغه دپاهر د یوے په بدله کښې لس نیکۍ د اوو سوو پورے لیکلے شي او څوک چه بدي کوي نو یوه بدي لیکلے شي. تر دے پورے چه ملاو شي د الله جل جلاله سره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَعَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ وَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلي دي کوم سړے چه اراده اوکړي د نیکۍ او اونۀ کړي هغے لره. نو د هغۀ دپاره یوه نیکي اولیکلے شي. او کوم سړے چه اراده د نیکۍ اوکړي او اوکړي هغه نیکۍ لره نو د هغۀ دپاره د لسو نه د اوو سوو پورے نیکۍ لیکلے کیږي. او کوم بنده چه اراده اوکړي د بدۍ او اونۀ کړي هغے لره نو هغه نۀ شي لیکلے او چه اوکړي نو لیکلے شي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ ثُمَّ بَيَّنَ ذَلِكَ فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً وَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ وَإِنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً وَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً

د عبدالله بن عباسؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ روایت کړے دے د خپل پروردګار نه فرمائیلي ئے دي. په تحقیق سره الله پاک لیکلي نیکو لره او بدو لره. بیائے بیان کړو هغے لره. څوک چه اراده اوکړي د نیکۍ بیا اونۀ کړي هغے لره نو الله ؑ د هغۀ دپاره صرف یوه نیکي اولیکي. او کۀ چرے اراده اوکړي د نیکۍ او اوکړي هغے لره. نو د هغۀ دپاره دلسو نیکو نه واخله د اوو سوو پورے نورے زیاتے اولیکلے شي. او چه اراده اوکړي د بدۍ او بیا اونۀ کړي هغے لره. نو الله پاک به ددۀ دپاره پوره یوه نیکي اولیکي او چه اوکړي هغے بدۍ لره نو د هغۀ دپاره یوه بدي اولیکلے شي.[1]

عَنِ الْجَعْدِ أَبِي عُثْمَانَ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ بِمَعْنَى حَدِيثِ عَبْدِ الْوَارِثِ وَزَادَ وَمَحَاهَا اللهُ وَلَا يَهْلِكُ عَلَى اللهِ إِلَّا هَالِكٌ

دویم روایت هم دغسے دے لکه چه پورته ذکر شو. لیکن دومره زیات دے. چه کۀ چرے دغه بدي اوکړي نو یوه بدي لیکلے شي یا هغے لره هم خدائے پاک ختموي او څوک نۀ تباه کیږي د خدائے سره

[1] ددے حدیث نه دا خبره معلومه شوے ده چه د نیکۍ د دوچند کیدو څۀ انتها نشته او دۀ سوؤ پورے او ددے نه زیات هم دوچند کیږي او دا مذهب صحیح او مختار دے او ماوردي د بعضے عالمانو نه نقل کړے دے چه دا دوچند کیدل د اوو سوو نه زیات نۀ کیږي ددے حدیث نه ددے قول غلطي ثابته شوه (نووي)

مګر د چا چه په قسمت کښې تباهي ده.

بَاب بَيَانِ الْوَسْوَسَةِ فِي الْإِيمَانِ وَمَا يَقُولُهُ مَنْ وَجَدَهَا

باب: د وسوسے بیان او هر کله چه وسوسه راشي نو څۀ به وائے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلُوهُ إِنَّا نَجِدُ فِي أَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ أَحَدُنَا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ قَالَ وَقَدْ وَجَدْتُمُوهُ قَالُوا نَعَمْ قَالَ ذَاكَ صَرِيحُ الْإِيمَانِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے څۀ خلق د صحابو نه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راغلل او تپوس ئے اوکړو. چه زمونږ په زړونو کښې هغه هغه خيالونه تيريږي چه د هغے بيانول زمونږ نه هر يو لره لوئے ګناه معلوميږي يعني هغه خيال لره ويلې کيدے نۀ شي ځکه چه معاذ الله هغه خيال د کفر يا فسق خيال دے چه د هغے د خلے نه ويستل مشکل معلوميږي. حضرتﷺ اوفرمايل: ولې تاسو ته وسوسے کيږي؟ خلقو اووے آو. حضرتﷺ اوفرمايل. دا خو عين ايمان دے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُونَ حَتَّى يُقَالَ هَذَا خَلَقَ اللهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ آمَنْتُ بِاللهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمائيلي دي هميشه خلق تپوسونه کوي تر دے پورے چه وائي چه الله تعالى هر څۀ تول پيدا کړي. بيا الله چا پيدا کړو. پس څوک د دے قسم شبهه په زړۀ کښې اومومي نو اودے وائي چه ما ايمان راوړے په الله تعالى باندے[2].

---

[1] يعني هر کله چه تاسو دا وسوسه بده ګڼړئ او داسے بده چه دهغے د ژبے نه ويستل نۀ غوره کوئ نو معلومه شوه چه ستاسو ايمان کامل دے. او د شيطان زور په تاسو نۀ شي چليدے. ګنې دا وسوسه به مو په زړۀ کښې جمع کړے وه او رو رو به مو د ژبے نه هم ويستلے وه او شيطان وسوسے د هغه چا په زړۀ کښې غورخوي چه د هغۀ د ګمراه کولو نه نااُميده شي. او د کافر په زړۀ کښې د وسوسے غورخولو څۀ ضرورت دے هغه خو د شيطان په قابو کښې دے. ځنګه چه غواړي په دۀ لوبے کوي. نو مطلب د حديث دا دے. چه وسوسه سبب د ايمان دے يا وسوسه د خالص ايمان نخښنه ده. او د دے قول لره قاضي عياض اختيار کړے دے (نووی)

[2] او په دويم روايت کښې دي پناه غواړئ د الله نه او قلار شئ مطلب دا دے چه دغه وسواس او شبحے لره د زړۀ نه اوباسئ او د دے خيال پريږدئ. او د دے د لرے کيدو دپاره د الله پاک نه دُعا کوئ. امام مازري رحمه الله ويلي دي د ظاهر حديث نه دا خبره وتلے شي چه داسے وسوسو لره د زړۀ نه لرے کړئ او د هغے طرفته خيال پرېږدئ او د الله پاک نه پناه غواړئ او دا ضروري نۀ ده چه دغه وسوسه په سوچ او فکر او دليلونو سره باطله کړئ. اصل د دے چه خيالات په دوه قسمه دي. يو خو هغه دي چه هغه په زړۀ کښې نۀ مضبوطيږي خو داسے ناڅاپه راشي. د دغے علاق خو دغه دے کوم چه په حديث کښې ذکر شو او دغسے خيال ته وسوسه ويلے شي او بل قسم هغه خيال دے چه هغه په زړۀ کښې جمع شي نو هغه لرے کيږي نه بغير د سوچ او فکر او نظر او استدلال نه (نووی) د اردو کتاب مترجم

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِيَ الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُوْلُ مَنْ خَلَقَ السَّمَاءَ

د هشام بن عروه ؓ نه روایت دے په دے سند سره رسول الله ﷺ فرمایلی دی. شیطان په تاسو کښې یو ته راځي. بیا وائی چا پیدا کړے دے اسمان لره او چا پیدا کړے ده زمکے لره. نو هغه وائی

وائی چه کوم علاج په حدیث کښې ذکر شو دغه ددے دوه قسمه وسوسو علاج دے. او کۀ چرے په نظر او استدلال کښې پریوزی نو نورے زیاتے وسوسے پیدا کیږی. چه د هغے لرے کول په آخر کښې ګران شی. او ددے کلام هغه سرے تصدیق کوی چا چه د فلسفۀ الهی او حکمت او کالم ذائقه په ښۀ شان سره څکلی وی. او د هغے په دقائقو او حقائقو کښې نے د یو حد پورے غور ، نظر او فکر کړے وی تا د خپل عمر یوے حصے لره په دے کښې صرف کړے ده روسته د هغے نه معلومه شوه چه څومره قدرے نظر او استدلال لره وسعت ورکوے دومره قدرے حیرانی او پریشانی سوا کیږی. او بل څۀ دلیل په څۀ دعوه باندے نقض یا معارضے نه خالی نه وی إِلاَّ مَا شَاءَ الله په دے واسطه د لویو لویو متکلمینو امامانو لکه امام غزالیؒ، امام آمدی، ابن فورک، امام فخرالدین رازی وغیره. مونږ په خپل آخر عمر کښې رجوع اوکړه طرف د کتاب او سنت ته او اعراض مو اوکړو. د هغه وسوسو او خیالاتِ عقلیو نه په کومے کښې چه شیطان غورخولے وُم. بیا بچ کړو خدائے پاک چالره چه نے غوښته د خپلو بندیګانو نه او الله تعالی قادر دے په هر څیز باندے او د هغه پناه غوښتل پکار دی د شیطان د شر نه امام فخرالدین رازیؒ ویلی دی. چه انتها د عقل د ځغلولو داده چه په آخر کښې عقل اودریږی او دے حیرانیږی او ډیرو خلقو چا چه په دے کښې کوشش کړے دے آخر ګمراه شوی دی اوس دے شبهے ته اوګوری: کومه چه په حدیث کښې ذکر شوه. چه الله هر څۀ پیدا کړی دی بیا معاذ الله ؛ الله چا پیدا کړے دے. دا څومره شُبهه لویه د شیطان ده. چه د هغے حاصل دادے چه الله تعالی واجب دے یا ممکن دے. کۀ چرے ممکن دے نو په دے واسطه هم یو خالق ضرور دے. او کۀ واجب دے نو د هغه وجوب لره ثابتول پکار دی اوس حکماء او متکلمینو ته چه کوم وختونه د خدائے په وجوب او وحدت ثابتولو کښې وړاندے راغلی دی هغه د حکمت او د کلام د کتابونو د کتو نه معلومیدے شی او هر کله چه هغه اوګورے او په هغے باندے ښۀ غور اوکړے نو دا نتیجه پیدا شی. چه څۀ خبره په زړۀ کښې نۀ کلکیږی. او د څلور طرفه په شک او شبهاتو کښې بنده ګیریږی. آخر بیا ښکلی طریقه دا معلومیږی چه د خداوند کریم وجوب او وجود او وحدت لره د هغۀ فطری دلائلو نه ثابت کړی چه هغه خدائے پاک پخپل عنایت سره د هر سړی په زړۀ کښې ایخودے دی. او هغه بے بنیاده دلیلونو لره کوم چه حکماؤ او متکلمینو قائم کړی دی یودم پریږدی د حکماؤ او متکلمینو دلائل داسے دی. لکه مصنوعی ګل چه په ظاهر کښې ښکلے دے خو د تاثیر ګل نه دے په عوض د هغه تفریح او بے انتها خوبئ: کومه چه د ګُل د بویه ولو نه حاصلیږی ددغه مصنوعی ګل نۀ یو شان له پریشانئ او حیرت پیدا کیږی. ډیر فطری دلائل د خدائے پاک د پیژندګلئ دی چه په هغے کښې د لږ شان غور لرلو نه پس په خدائے تعالی باندے یقین خوریږی او د هغۀ د صفاتو ثبوت هم په ښۀ شان له حاصلیږی او د هغۀ د خطرناکو دلائلو عقلیو احتیاج باقی نۀ پاتے کیږی کوم لره چه فلاسفو او متکلمینو قائم کړے دے او مونږ د هغه دلیلونو نه د څۀ د لیلونو بیان پورته کړے دے او کۀ خدائے غواړی نو مونږ به په دے باب کښې یوه خانله او مُفصل رساله لیکو لونے او اوچت دلیل د خدائے د پیژندګلو دادے چه د څۀ کارخانے یا د باغ یا د مکان د ښۀ کیدو یا خرابیدو انتظام هم بغیر د یو منتظم نه نۀ وی. بیا د دومره لونے عالم یعنی دنیا انتظام چه په هغے کښې په زرګونو عالم په شان زمونږ د زمکے دی او ددے تولو حرکات سکنات او پیداوار او د شپے ورځے بدل والے بغیر د یو حاکم زبردست منتظم نه چه هغه د چا محتاج نۀ وی څنګه کیدے شی او کوم بنده چه دا ګنړی چه دا انتظام پخپله چلیږی هغه د خپل عقل او بصیرت نه کار نۀ اخلی وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللهُ لَهُ نُوْرًا فَمَالَهُ مِنْ نُّوْرٍ

مَنْ خَلَقَ الْأَرْضَ فَيَقُولُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِهِ وَزَادَ وَرُسُلِهِ

الله پیدا کړے دی. بیا وائی الله چا پیدا کړے دے.هر کله چه داسے شُبهه ستاسو نه د چا په زړهٔ کښې راشی نو وائی دِ چه ما ایمان راوړے دے په الله پاک باندے او د هغه په رسولانو [1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ مَنْ خَلَقَ كَذَا وَكَذَا حَتَّى يَقُولَ لَهُ مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ فَإِذَا بَلَغَ ذٰلِكَ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ وَلْيَنْتَهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی شیطان په تاسو کښې د یو خواله راشی .بیا وائی چا پیدا کړے دا او دا ترد ے پورے چه دا وائی چه ستا خدائے چا پیدا کړے دے. هر کله چه ستاسو نه چا ته داسے شُبهه وی نو پناه غواړی په الله سره د شیطان نه او واوړی دداسے خرابو خیالونو نه [2]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الْعَبْدَ الشَّيْطَانُ فَيَقُولُ مَنْ خَلَقَ كَذَا وَكَذَا مِثْلَ حَدِيثِ ابْنِ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی شیطان د بنده خواله راځی او وائی دا چا پیدا کړی دی دا چا پیدا کړی بیائے بیان کړو حدیث لره په هغه شان څنګه چه وړاندے تیر شو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزَالُ النَّاسُ يَسْأَلُونَكُمْ عَنِ الْعِلْمِ حَتَّى يَقُولُوا هٰذَا اللهُ خَلَقَنَا فَمَنْ خَلَقَ اللهَ قَالَ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِ رَجُلٍ فَقَالَ صَدَقَ اللهُ وَرَسُولُهُ قَدْ سَأَلَنِي اثْنَانِ وَهٰذَا الثَّالِثُ أَوْ قَالَ سَأَلَنِي وَاحِدٌ وَهٰذَا الثَّانِي

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی خلق به ستاسو نه د علم د خبرو تپوس کوی ترد ے پورے چه وائی به الله خو مونږ پیدا کړی یو بیا الله چا پیدا کړے دے. راوی وائی دے حدیث لره د بیانولو په وخت ابوهریرهؓ د یو سړی لاس نیولے وو. هغوی اووے رښتیا ویلی دی الله او د هغهٔ رسول ﷺ خمانه دوو سړو دا تپوس اوکړو او دا دریم دے یا یو سړی خمانه تپوس کړے دے او دا دویم دے

عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ لَا يَزَالُ النَّاسُ بِمِثْلِ حَدِيثِ عَبْدِ الْوَارِثِ غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرِ

د محمدؒ نه دا حدیث موقوفاً په ابوهریرهؓ باندے مروی دے په دے کښې د رسول الله ﷺ ذکر په اسناد کښې نشته دے لیکن د

---

[1] دد ے په لوستلو سره شیطان خفه شی اولاړ شی ولے چه د هغهٔ د دهوکے نه څهٔ نقصان او نهٔ شی کهٔ چرے دا شُبهه په زړهٔ کښې راشی نو دد ے علاج یو بل دے او هغه دا دے چه دغه مردود شیطان ته اووایې چه خدائے حو د هر څهٔ پیدا کونکے دے او خدائے هغه چاته ویلے شی چه د هغهٔ پیدا کونکے بل څوک نهٔ وی بیا ستا دا تپوس کول چه خدائے چا پیدا کړے دے لویه نادانی او کم عقل توب دے چه د داسے لوئے ذات چه د هغه عظمت او برکت اولوی د دنیا وَمَا فِيهَا د ټولو کائناتو نه معلوم دی

[2] یعنی دا خیال پریږده په بل څهٔ کار کښې مصروف شه او پوهه شه چه دا د شیطان وسوسه ده او هغه ګمراه کول غواړی (نووی)

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْإِسْنَادِ وَلٰكِنْ قَدْ قَالَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ صَدَقَ اللهُ وَرَسُولُهُ

حدیث په آخر کښې داسې دی چه رښتیا ویلی دی الله او د هغهٔ رسول ﷺ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُونَ يَسْأَلُونَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ حَتَّى يَقُولُوا هٰذَا اللهُ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ قَالَ فَبَيْنَا أَنَا فِي الْمَسْجِدِ إِذْ جَاءَنِي نَاسٌ مِنَ الْأَعْرَابِ فَقَالُوا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ هٰذَا اللهُ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ قَالَ فَأَخَذَ حَصًى بِكَفِّهِ فَرَمَاهُمْ ثُمَّ قَالَ قُومُوا قُومُوا صَدَقَ خَلِيلِي

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ ماته فرمایلی وو. اے ابوهریره! خلق به ستا نه (ددین د خبرو) تپوس کوی تردے پورے چه دا به اووائی عجیبه ده الله خو داد ے. اوس اللهؑ لره چا پیدا کړے دے. یو ځل مونږ په جماعت کښې ناست وو په دے کښې څهٔ خلق دبانډے اوسیدونکی راغلل. اواوئے ویل! اے ابوهریره !عجیبه ده اللهؑ خو داد ے اوس الله لره چا پیدا کړے دے. ددے د اوریدو سره ابوهریرهؓ په یو ډک موټی ګیټو بانډے هغهٔ اوویشتهٔ او ورته ئے اووے پاڅئ پاڅئ. رښتیا ویلی وو خما دوست رسول الله ﷺ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَسْأَلَنَّكُمُ النَّاسُ عَنْ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى يَقُولُوا اللهُ خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَمَنْ خَلَقَهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی ستاسو نه به خلق دهرے یوے خبرے تپوس کوی. تردے پورے چه او به وائی چه الله خو هر څیز پیدا کړے دے. بیا اللهؑ چا پیدا کړے دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا يَزَالُونَ يَقُولُونَ مَا كَذَا مَا كَذَا حَتَّى يَقُولُوا هٰذَا اللهُ خَلَقَ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. الله تعالی فرمایلی دی ستا د امت خلق به وائی دا څهٔ دے دا څهٔ دے. په آخر کښې به داسې اووائی الله خو مخلوق پیدا کړے دے. بیا الله چا پیدا کړے دے.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّ إِسْحٰقَ لَمْ يَذْكُرْ قَالَ قَالَ اللهُ إِنَّ أُمَّتَكَ

د حضرت انسؓ نه روایت دے په دغه شان سره لکه چه پورته ذکر شو. مګر په دے کښې دانشته چه الله پاک عزوجل فرمایلی دی بیشکه (چه هغه خلق به) ستا امتیان وی

بَاب وَعِيدِ مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ مُسْلِمٍ بِيَمِينٍ فَاجِرَةٍ بِالنَّارِ

باب : کوم سړے چه قسم اوخوری او د چا مسلمان حق اووهی د هغهٔ سزا جهنم دے

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوامامهؓ (ایاس بن ثعلبه انصاری حارثی یا عبد الله بن ثعلبه یا ثعلبه بن

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَإِنْ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ

عبدالله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کوم سړی د چا مسلمان حق (که مال وی یا غیر مال لکه د ښار وی ځرمن غوشیان وغیره یا نور قسم له حقوق وی لکه حق د شفعے، حق د شرب حدِ قذف د ښځے سره د اوسیدو وار) اووهی او قسم اوخوری نو الله پاک دده دپاره واجب کړو جهنم لره. او حرام ئے کړو په دهٔ باندے جنت لره. یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ اګر که هغه لږ غوندے څیز وی حضرت ﷺ اوفرمائیل. اګر که یو ښاخ د پیلو (د مسواک د ونے) ولے نهٔ وی[1].

---

[1] د مسلمانانو حق تلفی خومره لوئے ګناه ده او دویم په دروغه قسم خوړل معاذالله ددے سزا دغه ده چه د جنت نه محرومه شی او جهنم نه لاړ شی اوس که دا حق ډیر وی او که لږ وی خو په هر حال دغه ئے سزا ده ولے چه دهٔ د اسلام حق لره اونهٔ پیژندو او د خدائے پاک د نوم عظمت ئے هم اونهٔ کړو. نووی ویلی دی په دے حدیث کښں په دے دوه قسمه سره تاویل کول پکار دی. کوم چه پورته تیر شو خو دا چه حدیث محمول دے په هغه سړی باندے چه هغه دے کار لره حلال اوګنړی او کوی ئے او بیا مړ شی. په دے اعتقاد باندے خو هغه کافر دے همیشه همیشه به په جهنم کښں اوسیږی دویمه دا چه د جهنم د واجبیدو نه دا مراد دے چه هغه مستحق دے د جهنم خو خدائے پاک هغهٔ لره معاف کولے شی. او د جنت د حرام کیدو نه غرض دا دے چه په اول تولی کښں هر کله چه نور جنتیان جنت ته ځی نو دے به نهٔ شی تلے او د مسلمان د حق اخستلو دا قید چه ئے کوم لګولے دے. نو ددے نه دا غرض نهٔ دے چه د کافر ذمی حق اخستل حرام نهٔ دی بلکه مطلب دا دے. چه دومره سخت وعید د هغه چا په حق کښں دے څوک چه مسلمان وی. او د کافر ذمی حق وهل هُم حرام دی لیکن دا ضروری نهٔ ده چه په هغے کښں د دومره سخت عذاب وی. دا تفسیر د هغه سړی په مذهب باندے دے. کوم چه د مفهوم مخالف قائل دے لیکن چه څوک د مفهوم مخالف قائل نهٔ دے هغهٔ لره د تاویل حاجت نشته دے. او قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی د مسلمان د حق وهلو قید ئے ددے دپاره لګولے دے چه اکثر معاملے د مسلمانانو سره راغلے دی. نهٔ ددے دپاره چه د کافر حق وهل صحیح دی بلکه د کافر او د مسلمان د دواړو دپاره دغه حکم دے لکه یو شان حُکم دے بیا دا عذاب د هغه بنده دپاره دے کوم چه د مسلمان حق اووهی او د توبے نه وړاندے مړ شی لیکن څوک چه توبه اوباسی او په خپلو کړو کارونو باندے خپیمانه شی او هغه کوم حق چه دهٔ وهلے وی هغه واپس ورکړی. نو دده نه ګناه ساقطه شوه او ددے حدیث نه تائید کیږی د امام مالک او امام شافعیؒ او د جمهورو علماؤ د مذهب چه د حاکم حکم نهٔ مباحه کوی هغه حق لره کوم چه دده نهٔ دے. مګر د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد مباح کوی (نووی). امام نوویؒ ویلی دی کومو خلقو چه د صحابو په حال کښں کتابونه لیکلی دی هغه اکثر وانی چه ابوامامه حارثیؓ ددے حدیث راوی وفات موندلے وو هر کله چه رسول الله ﷺ د جنګ اُحد نه واپس شو بیا هغوی په هغهٔ باندے د جنازے مونځ اولوستلو په دے صورت کښں د مسلم روایت منقطع شولو. ځکه چه عبدالله بن کعبؓ تابعی دے او هغه ځنګه اوریدلے شی د هغه سړی نه چه هغه وفات موندلے وی. پهٔ ۳ ء کښں. لیکن دا نقل د ابوامامهؓ د وفات صحیح نهٔ دے ځکه چه د عبد الله بن کعب نه په صحت منقول دے چه حدیث بیان کړے دے ماته ابوامامهؓ لکه چه پخپله مسلم په دویم روایت کښں کړے دے بیا دا تصریح ده د عبدالله بن کعب د سماع د ابوامامه نه او ددے نه باطل شو هغه چه کوم اوویلے شو چه ابوامامه وفات

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِيْنِ صَبْرٍ يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ هُوَ فِيهَا فَاجِرٌ لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ قَالَ فَدَخَلَ الْأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ فَقَالَ مَا يُحَدِّثُكُمْ أَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالُوْا كَذَا وَكَذَا قَالَ صَدَقَ أَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ فِيَّ نَزَلَتْ كَانَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ أَرْضٌ بِالْيَمَنِ فَخَاصَمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلْ لَكَ بَيِّنَةٌ فَقُلْتُ لَا قَالَ فَيَمِيْنُهُ قُلْتُ إِذَنْ يَحْلِفُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذٰلِكَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِيْنِ صَبْرٍ يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ هُوَ فِيهَا فَاجِرٌ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ فَنَزَلَتْ إِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا إِلَى آخِرِ الْآيَةِ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلي دي کوم سړے چه د حاکم په حکم د یو مسلمان د حق وهلو دپاره په دروغه باندے قسم اوخوری نودے به د الله جل جلاله سره ملاویږي. او هغه به په دهٔ باندے ډیر غصّه وي هر کله چه عبد الله بن مسعودؓ دا حدیث بیان کړو. نو اشعث بن قیس راغے اووے ویل ابو عبد الرحمٰن (دا کنیت دے د ابن مسعودؓ) څنګه حدیث بیانوی تاسو ته خلقو اووے داسے داسے حدیث. اشعثؓ اووے هغه رښتیا ویلي دی. دا خما په باره کښې نازل شوے دے. خما او د یو بل سړي د شرکت زمکه وه په یمن کښې. نو خما او د هغهٔ په مینځ کښې جګړه راغله. او راغلو په خدمت کښې د حضرتؐ حاضر شو حضرتؐ ماته اوفرمائیل تا سره ګواهان شته؟ ما عرض اوکړو چه نشته. حضرتؐ اوفرمائیل چه ده نو بیا دهٔ لره قسم ورکړه. ما اووے هغه خو به قسم اوخوری. نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل. کوم سړے چه مجبور شي او قسم اوخوری د مسلمان د مال د وهلو دپاره او هغه دروغ وي. نو دے به د الله جل جلاله سره ملاویږي او هغه به غصه وي دهٔ ته. بیا دا ایت نازل شو. إِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا د آیت د اخره پورے. یعنی کوم خلق چه د الله وعده او قسم ورکړی د لږ شانے مال اخستلو دپاره د هغوی په اخرت کښې څهٔ حصه نشته. او خدائے پاک به د هغوی سره خبرے نهٔ کوی. او نهٔ به هغوی لره پاک کړے. او نهٔ به د هغوی طرفته اوګوری او هغوی لره

موندلے دے په ۳ کښې او کهٔ چرے دا تاریخ وفات صحیح وے. نو مسلم به دے سند لره نهٔ نقل کوو. امام ابن الاثیر په خپل کتاب معرفة الصحابه کښې انکار کړے دے د دے تاریخ د وفات نه انتهی

به دردناک عذاب وی[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ يَسْتَحِقُّ بِهَا مَالاً هُوَ فِيهَا فَاجِرٌ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ كَانَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ خُصُومَةٌ فِي بِئْرٍ فَاخْتَصَمْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ شَاهِدَاكَ أَوْ يَمِينُهُ

عبد الله بن مسعودؓ فرمائيلی دی چه کوم سړے قسم اوخوری د يو مال وهلو دپاره او هغه دروغجن وی په هغے کښې ملاوېږی به د خدائے پاک سره د غصے په حالت کښې (يعنی خدائے پاک به غصه وی په دهٔ باندے) بيائے بيان اوکړو هغه شان لکه چه وړاندے تير شو. په دی کښې دا زياته ده چه زما او ديو سړی په مينځ کښې تکرار وو په يو کوهی باندے زمونږ د دواړو جګړه وه مونږ فيصله يوړه نبی کريم ﷺ ته هغوی اوفرمايل ستا په واسطه دوه ګواهان دی يا ددهٔ قسم دے.

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ حَلَفَ عَلَى مَالِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِغَيْرِ حَقِّهِ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ قَالَ عَبْدُ اللهِ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللهِ إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً إِلَى آخِرِ الْآيَةِ

د عبدالله بن مسعودؓ نه روايت دے ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمايلی ئے وو. کوم بنده چه قسم اوخوری د يو مسلمان په مال باندے په ناحقه سره. نو ملاوېږی به د الله سره او هغه به په دهٔ باندے غصه وی. عبد اللهؓ وائی. بيا رسول الله ﷺ ددے په تصديق کښې دا ايت اولوستلو. إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا د آخری آية پورے.

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ هَذَا قَدْ غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ لِي كَانَتْ لِأَبِي فَقَالَ الْكِنْدِيُّ هِيَ أَرْضِي فِي يَدِي أَزْرَعُهَا لَيْسَ لَهُ فِيهَا حَقٌّ فَقَالَ

د وايل بن حجرؓ نه روايت دے چه يو سړے د حضر موت (د يو ملک نوم دے په عربو کښې) او يو سړے د کنده د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغله. حضرت موت والا اووے. يا رسول الله ﷺ دے سړی زما زمکه نيولے ده. چه هغه زما د پلار زمکه وه کنده والا اووے. هغه زما زمکه ده زما په قبضه کښې ده زهٔ په هغے کښې زمينداری کوم ددهٔ څهٔ حق نشته په هغے کښې. بيا رسول الله ﷺ حضرت موت والا

[1] نوویؒ ويلی دی چه علماء وائی د غصے نه دا مراد دے چه الله پاک به دهٔ لره د خپل رحمت نه لرے کړی او دے به په عذاب کړی او ددهٔ کار به بد اوګڼړی د اردو کتاب مترجم وائی چه دا تاويل دے د صفت الهی يعنی د غضب علمائے سلفو د الله په صفاتو کښې تاويل نه دے کړے. جاری کړی دی هغوی لره په ظاهر باندے او قلار شوی دی د هغی د کيفيت بيانولو نه او دغه لاره د سلامتی او احتياط ده او په تاويل کښې ډيرے خطرے دی خو امام نوویؒ په دے مقام باندے د متأخرينو متکلمينو تابعداری کړے ده

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَضْرَمِيِّ أَلَكَ بَيِّنَةٌ قَالَ لَا قَالَ فَلَكَ يَمِينُهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الرَّجُلَ فَاجِرٌ لَا يُبَالِي عَلَى مَا حَلَفَ عَلَيْهِ وَلَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ فَقَالَ لَيْسَ لَكَ مِنْهُ إِلَّا ذَلِكَ فَانْطَلَقَ لِيَحْلِفَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَدْبَرَ أَمَا لَئِنْ حَلَفَ عَلَى مَالِهِ لِيَأْكُلَهُ ظُلْمًا لَيَلْقَيَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ عَنْهُ مُعْرِضٌ

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهُ رَجُلَانِ يَخْتَصِمَانِ فِي أَرْضٍ فَقَالَ أَحَدُهُمَا إِنَّ هَذَا انْتَزَى عَلَى أَرْضِي يَا رَسُولَ اللهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَهُوَ امْرُؤُ الْقَيْسِ بْنُ عَابِسٍ الْكِنْدِيُّ وَخَصْمُهُ رَبِيعَةُ بْنُ عِبْدَانَ قَالَ بَيِّنَتُكَ قَالَ لَيْسَ لِي بَيِّنَةٌ قَالَ يَمِينُهُ قَالَ إِذَنْ يَذْهَبُ بِهَا قَالَ لَيْسَ لَكَ إِلَّا ذَاكَ قَالَ فَلَمَّا قَامَ لِيَحْلِفَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَطَعَ أَرْضًا ظَالِمًا لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ قَالَ إِسْحَقُ فِي رِوَايَتِهِ رَبِيعَةُ بْنُ عَيْدَانَ

ته اووے . ستا سره ګواهان شته؟ هغه اووے نشته دے. حضرت اوفرمايل بيا دۀ لره قسم ورکړه هغۀ اووے يا رسول الله ﷺ هغه خو فاجر دے په قسم خوړلو کښې هغۀ ته باک نشته او هغه پرهيز نۀ کوی د څۀ خبرے نه حضرت اوفرمايل ستا اوس څۀ وس نۀ چليږی په هغۀ باندے سوا د قسم نه . بيا هغه لاړو قسم خوړلو لره. رسول الله ﷺ اوفرمائيل هر کله چه د هغۀ شا شوه. ګوره کۀ چرے دۀ قسم اوخوړو د بل د مال په ناحقه سره اخستلو دپاره. نو دے به د خدائے پاک سره ملاويږی او هغه به په دۀ باندے ډير زيات غصه وی.

د وائل بن حُجر ؓ نه روايت دے. زۀ د رسول الله ﷺ سره وم. په دے کښې دوه سړی راغلل چه جنګ ئے کوو په يوه زمکه باندے. يو اووے دۀ ځما زمکه اخستے ده په زور، د جاهليت په زمانه کښې او هغه امرالقيس بن عابس کندی وو او د هغۀ حريف (دشمن) ربيعه بن عبدان وو. حضرت ؑ اوفرمايل ستاسره ګواهان شته دے؟ هغه اووے نشته دے. حضرت ؑ اوفرمايل نو بيا په دۀ باندے قسم دے. هغۀ اووے يا رسول الله ﷺ بيا خو به هغه ځما مال واخلی (يعنی قسم به اوخوری) حضرت ؑ اوفرمايل بس دغه کيدے شی ستا دپاره . هر کله چه هغه پاڅيدو د قسم د خوړلو دپاره نو رسول الله ﷺ اوفرمايل کوم سړے چه د چا زمکه په ظلم سره اوو هی. نو خدائے پاک به په هغۀ باندے غصه وی. هر کله چه دے د هغۀ سره ملاؤ شی. د اسحاق په روايت کښې ربيعه بن عيدان دے[1]

[1] يا د مثناة نه او د زهير په روايت کښې په باء موحده سره قاضی عياض ويلی دی چه صحيح د اسحق روايت دے يعنی په عيدان ي امثناة سره او دا قول دے د دارقطنی او عبد الغنی بن سعيد او د ابو نصر بن ماکولا او ابن يونس په تاريخ کښې هم دغه شان ليکلے دے ليکن يو جماعت د حفاظو چه په هغوی کښې دی حافظ ابو القاسم بن عساکر د مشقی دا عبدان په کسر د بائے موحده او عين لو تشديد دال سره روايت کړے دے نووی وائی دد ے حديثو نه خو مسائل معلوم شول يو خو دا چه قابض زيات حقدار دے په نسبت

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ مَنْ قَصَدَ أَخْذَ مَالِ غَيْرِهِ بِغَيْرِ حَقٍّ كَانَ الْقَاصِدُ مُهْدَرَ الدَّمِ فِي حَقِّهِ وَإِنْ قُتِلَ كَانَ فِي النَّارِ وَأَنَّ مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ

باب: کوم سړے چه پردے مال ناحقه سره اخستل اوغواړی نو د هغهٔ وینه به د هغې په حق کښې لغو کیږی. او چه مړ شی نو جهنم ته به ځی. او مال والا کهٔ چرے د خپل مال په بچ کولو کښې مړ شی نو هغه شهید دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي قَالَ فَلَا تُعْطِهِ مَالَكَ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي قَالَ قَاتِلْهُ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي قَالَ فَأَنْتَ شَهِيدٌ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ قَالَ هُوَ فِي النَّارِ

د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ له راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهؐ ته څهٔ فرمائے چه کهٔ یو سړے راشی او خما نه خما مال په ناحقه سره اخلی. حضرتؐ اوفرمایل مهٔ ورکوه خپل مال هغهٔ له بیا هغه سړی اووے کهٔ چرے هغه خما سره جنګ کوی. حضرتؐ اوفرمایل ته ورسره جنګ کوه. بیا هغهٔ اووے کهٔ چرے هغه ما مړ کړی. حضرتؐ اوفرمایل ته شهید شوے بیا هغهٔ اووے کهٔ چرے زهٔ هغه مړ کړم حضرتؐ اوفرمایل هغه به جهنم ته ځی[1]

د غیر قابض دویمه دا چه هر کله مدعی علیه منکر شی او د مدعی سره ګواه نهٔ وی نو په مدعی علیه باندے قسم دے دریمه دا چه ګواه مقدم دی په قبضه باندے او د چا سره چه ګواه وی څیز به هغه ته ورکولے شی بغیر د قسم خوړلو نه خلورم دا چه کهٔ مدعی علیه اګر فاسق وی بیا هم د هغهٔ قسم مقبول دے او مطالبه به د هغهٔ نه ساقطه کیږی پنځم دا چه کهٔ چرے مدعی یا مدعی علیه یو بل ته د دشمنی په وجه فاسق یا فاجر اووائی نو د هغې مواخذه به نهٔ وی شپږم دا چه کهٔ چرے وارث مړ شوے دے او سوا د مدعی نه بل خوک د هغهٔ وارث نشته نو د دهٔ فیصله کول صحیح ده او په دے باندے چه مدعی د دهٔ وارث دے او مورث مړ شوے دی ګواه اخستل ضروری نهٔ دی او کوم حاکم ته چه دا امر معلوم نهٔ وی نو ورمیے د وراثت په ثبوت باندی ګواه اخستل پکار دی بیا د دعوے په ثبوت باندے انتهی مختصراً

[1] یعنی هغه مستحق شو د جهنم ولے چه هغه ظالم وو بیا به یا دهٔ ته بدله ملاؤ شی د دغه ظلم او جهنم ته به لاړ شی یا به ئے الله تعالی معاف کړی او خوک چه دے کار لره حلال ګڼړی هغه کافر دے هغه به بے شکه جهنم ته ځی او دا چه کوم حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه کهٔ چرے ته مړ شوے نو ته شهید ئے یعنی تا ته به ثواب د شهیدانو په شان ملاویږی اګر چه د دنیا په احکامو کښې شهید نهٔ وی خکه چه شهید په درے قسمه دے یو خو هغه چه د کافرو د لاسه جهاد کښې مړ شی په څهٔ سبب سره نو هغه شهید دے د دنیا او آخرت د دواړو د احکامو په رو سره یعنی په دنیا کښې دا حکم دے چه دهٔ لره به غسل نهٔ ورکوی او نهٔ پرے د جنازے مونځ کوی او په آخرت کښې به دهٔ ته درجه د شهیدانو ملاویږی دویم هغه چه هغه د آخرت د ثواب په رو سره شهید دے د دنیا په احکامو کښې شهید نهٔ دے لکه په طاعون سره مړ شوے یا د ګېډے په بیمارئ سره یا چه پرے کور راوغورځیږی یا چه د خپل مال په بچ

عَنْ ثَابِتٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ لَمَّا كَانَ بَيْنَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو وَبَيْنَ عَنْبَسَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ مَا كَانَ تَيَسَّرُوا لِلْقِتَالِ فَرَكِبَ خَالِدُ بْنُ الْعَاصِ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو فَوَعَظَهُ خَالِدٌ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ

د ثابت نه روایت دے چه مولی وو د عمرو بن عبدالرحمن هر کله چه د عبد الله بن عمرو او عنبسه بن ابی سفیان کښې فساد راغے نو دواړه جنګ کولو ته تیار شول خالد بن العاص چه دا واوریدل نو په سورلئ سور شو د عبدا لله بن عمرو خواله لاړو او هغه ئے پوهه کړو. عبد الله بن عمر او وے تاته معلومه نۀ ده چه حضرت رسول الله ﷺ فرمایلی دی. کوم سړے چه قتل کړے شی د خپل مال د بچ کولو دپاره هغه شهید دے[1]

کولو کښې شهید شی یعنی مړ شی. په دوی باندے د شهید لفظ په احادیث کښې راغلے دے نو داسے شهید لره به غسل ورکوی او مونځ د جنازے به پر کوی. او په آخرت کښې به دوی ته ثواب د شهیدانو په شان ملاویږی خو دا ضروری نۀ ده چه د وړمبی قسم شهیدانو برابر به ملاویږی. دریم هغه چه ددنیا د احکامو په رو سره شهید دے خو دوی لره به د شهادت ثواب یا پوره ثواب نۀ ملاویږی لکه دهغه شهید چه هغه د غنیمت په مال کښې خیانت کړے دی. او په مثل د هغه چه هغۀ ته ویلے شی چه شهید نۀ دے بیا دا قسم شهید چه: کافرانو د جنګ کښې شهید شوے وی د هغۀ حکم به ددنیا د شهیدانو په شان وی نۀ به دۀ لره غسل ورکوی او نۀ به پرے مونځ د جنازے کوی خو په آخرت کښې به دۀ ته پوره ثواب نۀ ملاویږی شهید ته شهید خکه ویلے شی چه هغه ژوندے دے. او د هغۀ روح په جنت کښې حاضر دے په خلاف د نورو مړو چه هغو به د قیامت په ورځ جنت ته ځی دا قول د نضربن شمیل دے او ابن الانباری وائی خکه چه د شهید دپاره الله تعالی او د هغه فرښتو ګواهئ ورکړے ده د جنت او بعضو ویلی دی خکه چه شهید د ساه وتلو په وخت ښه خپلو درجو او مرتبو لره وینی. او بعضے وائی چه فرښتے د هغۀ د روح اوړلو ته حاضریږی. او بعضو ویلی دی چه ددۀ په ایمان او ښکلے خاتمه باندے خلق ګواه وی د ظاهر په رو باندے. او بعضو ویلی دی چه ددۀ وینه او زخم په دۀ باندے ګواه دی ولے چه هغه د قیامت په ورځ د قبر نه پاځی او د هغۀ زخم به تازه وی او وینه به تر نه بهیږی. او زهری وغیره یو بل قول نقل کړے دے چه دۀ نه شهید دد ے وجے نه ویلے کیږی. چه د ے به ګواه وی د قیامت په ورځ په نورو امتونو باندے. په د ے صورت کښې دد ے د تخصیص څۀ وجه نشته ولے چه زمونږ د پیغمبر امت ګواه د ے په نورو امتونو باند ے. انتهٰی ما قال النووی علیه الرحمة

[1] یعنی چه څوک ظالم په ظلم سره ددۀ مال په زور په ناحقه باندے اخستل غواړی بیا هغه جنګ کوی ددغه ظالم سره او مړ شی په دغه جنګ کښې نو شهید دے. او کۀ چرے دغه ظالم لره اووژنی. نو هغه به جهنم ته ځی بلکه چه په وړاندے روایت کښې ذکر شو امام نووی رحمه الله وائی دد ے احادیثو نه دهغه سړی قتلول صحیح کیږی چه هغه په ناحقه سره مال په زور اخستل غواړی اوس کۀ دغه مال لږ وی یا ډیر وی خکه چه حدیث عام دے. او بعضے مالکیو دا لیکلی دی. چه د لږ مال په غصب سره اخستلو کښې لکه کپړا با عله .سل صحیح نۀ دے خو دا مذهب څۀ نۀ دے ولے چه د حدیثو نه خلاف دے. او صحیح هغه دے کوم چه د حدیث نه ثابت شوے دے او دے لره جمهور علماؤ اختیار کړے دے. او د خپل مال د بچ کولو دپاره جنګ کول جائز دی. واجب نۀ دی کۀ غواړی نو جنګ د نۀ کوی مال لوټل د برداشت کړی لیکن د ښځے عزت بچ کول واجب دی او د هغے دپاره جنګ ضروری دے. او د خپل ځان دپاره بل ذویم لره په وژلو کښې اختلاف دے.

بَاب اسْتِحْقَاقِ الْوَالِي الْغَاشِّ لِرَعِيَّتِهِ النَّارَ

عَنِ الْحَسَنِ قَالَ عَادَ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ زِيَادٍ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ الْمُزَنِيَّ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ قَالَ مَعْقِلٌ إِنِّي مُحَدِّثُكَ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ عَلِمْتُ أَنَّ لِي حَيَاةً مَا حَدَّثْتُكَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ إِلَّا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ

عَنِ الْحَسَنِ قَالَ دَخَلَ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ زِيَادٍ عَلَى مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ وَهُوَ وَجِعٌ فَسَأَلَهُ فَقَالَ إِنِّي مُحَدِّثُكَ حَدِيثًا لَمْ أَكُنْ حَدَّثْتُكَهُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَسْتَرْعِي اللهُ عَبْدًا رَعِيَّةً يَمُوتُ حِينَ

باب : كوم حاكم چه د خپل رعيّت په حقوقو كښې خيانت كوي. د هغهٔ دپاره جهنم دے.

د حسنؒ نه روايت دے عبيد الله بن زياد د معقل بن يُسارؓ تپوس له راغے په كومه بيمارئ كښې چه هغه مړ شو نو معقل اووے زهٔ يو حديث بيانوم چه ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلے دے. او كهٔ چرے ماته علم وے. چه زهٔ به ژوندے يم نو تاسو ته به م بيان كړے نهٔ وو.ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلى دى. چه فرمايلى ئے وو. يو بنده داسے نشته چه هغهٔ لره الله تعالى رعيت وركړى. بيا هغه مړ شى په داسے حالت كښې چه هغه خيانت كوى د خپل رعيت په حقوقو كښې مگر خدائے پاك به حرام كړى په هغه باندے جنت لره[1].

د حسنؓ نه روايت دے. چه عبيدالله بن زياد د معقل بن يسارؓ خواله لاړو او هغه بيمار وو. هغهٔ ته معقلؓ اووے. زهٔ تاته يو حديث بيانوم چه هغه ما تاته نهٔ وو بيان كړے. رسول اللهﷺ فرمائيلى دى. الله چا بنده لره رعيت نهٔ وركوى بيا هغه د مرگ په وخت د هغوى د حقوقو په خيانت كښې مړ كيږى. مگر الله حراموى په هغهٔ باندے جنت لره.

---

[1] دا حديث معقل د عُبيد الله بن زياد تهٔ د مړ كيدو په وخت بيان كړو ولے چه هغه ته معلومه وه چه عبيد الله بن زياد ته دا حديث فائده نهٔ وركوى. بيا هغوى خيال اوكړو چه د حديث پټول غوره نهٔ وى. او د نيكے خبرے ښودل ضرورى دى. اگر كهٔ هغه ئے منى يائے نهٔ منى دد ے وجے نه هغوى په خپل ژوند كښې بيان نهٔ كړو. چه هسے نهٔ دد ے حديث نه يو فساد خورشى. خلق عبيد الله ابن زياد بد اوگڼړى او ددهٔ د اطاعت نه واپس شى. يا عبدالله ابن زياد معقل ته ضرر اُورسوى ولے چه هغه مردود ظالم او جابر وو او هغه د اهل بيت نبوىؐ حرمت او عزت او نهٔ كړو نو د بل چا د حرمت د هغهٔ نه څهٔ توقع وه. او د رعيّت په حقوقو كښې د خيانت كولو نه مراد دادے چه د حاكم دپاره د خپل رعيت ددين او دنيا دواړو اصلاح ضرورى ده. بيا كهٔ چرے هغه د خلقو دين خراب كړو او حدودِ شرعيه ئے پريخودل يائے د هغوى په جان او مال باندے ناحق زياتے اوكړو يا ئے بل قسم بے انصافى اوكړه. يائے د هغو د حق تلفى اوكړه. نو هغه په خپل فرض منصبى كښې خيانت اوكړو. اوس هغه جهنمى شو او كهٔ چرے دغه كار لره ئے حلال اوگڼړلو نو هميشه دپاره د جنت نه محروم شو. گنى په اول تولى كښې هر كله چه جنتيان جنت ته داخليږى. دے به د هغوى سره د تلو نه محروم شى. نووىؒ

يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌ لَهَا إِلاَّ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ قَالَ أَلاَ كُنْتَ حَدَّثْتَنِي هَذَا قَبْلَ الْيَوْمِ قَالَ مَا حَدَّثْتُكَ أَوْلَمْ أَكُنْ لأُحَدِّثَكَ

ابن زیاد اووے ولې تا ماته دا حدیث نه بیانولو ددے نه مخکښ معقل اووے ما بیان کړے نۀ دے تاته یا ما ولې تاته بیان کړے وے (او خپل خان م په مصیبت کښ اخته کړے وے اوس خو مرم اوس ماته ستا نه یره نشته په دے وجه م بیان کړلو)

عَنْ هِشَامٍ قَالَ قَالَ الْحَسَنُ كُنَّا عِنْدَ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ نَعُودُهُ فَجَاءَ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ زِيَادٍ فَقَالَ لَهُ مَعْقِلٌ إِنِّي سَأُحَدِّثُكَ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِهِمَا

د هشام نه روایت دے حسن وائي چه مونږ د معقل بن یسار سره وو د هغۀ د بیمار پُرسئ دپاره په دے کښ عبید الله بن زیاد راغے معقل هغۀ ته اووے: زۀ تا ته یو حدیث بیانوم چه ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه بیانے بیان کړو حدیث لره په هغه شان لکه چه پورته ذکر شو

عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ أَنَّ عُبَيْدَ اللهِ بْنَ زِيَادٍ عَادَ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ فِي مَرَضِهِ فَقَالَ لَهُ مَعْقِلٌ إِنِّي مُحَدِّثُكَ بِحَدِيثٍ لَوْلاَ أَنِّي فِي الْمَوْتِ لَمْ أُحَدِّثْكَ بِهِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ أَمِيرٍ يَلِي أَمْرَ الْمُسْلِمِينَ ثُمَّ لاَ يَجْهَدُ لَهُمْ وَيَنْصَحُ إِلاَّ لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمُ الْجَنَّةَ

ابو الملیح (عامر یا زید بن اسامه هذلی بصری) نه روایت دے چه عبیدالله بن زیاد بیمار پُرسی اوکړه د معقل د هغۀ په بیمارئ کښ، نو معقل اووے زۀ تاته یو حدیث بیانوم که چرے مړ کیدو والانه وے نو تاته به م بیان کړے نه وے. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو چه څوک حاکم وی د مسلمانانو بیا د هغوی په نیکئ کښ کوشش نه کوی او په خالص نیت سره د هغوی ښه والے نه غواړی نو هغه به د هغوی سره جنت ته نه شی تلے (بلکه ورستو به پاتے کیږی او د خپلے ناانصافئ عذاب به ئے شرموی)

بَابُ رَفْعِ الْأَمَانَةِ وَالْإِيمَانِ مِنْ بَعْضِ الْقُلُوبِ وَعَرْضِ الْفِتَنِ عَلَى الْقُلُوبِ

باب: د بعضے زړونو نه د امانت او د ایمان د پاخیدو بیان او په زړونو کښ د فتنو راتلل

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ قَدْ رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الْآخَرَ حَدَّثَنَا أَنَّ الْأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ ثُمَّ نَزَلَ الْقُرْآنُ فَعَلِمُوا

د حذیفه بن یمان نه روایت دے رسول الله ﷺ مونږ ته (د امانت په باب کښ) دوه حدیثونه بیان کړل یو خو ما اولیدو او د دویم انتظار کوم حدیث بیان کړو مونږ ته (دا ړومبے حدیث دے) چه امانت د خلقو د زړونو نازل شو بیا هغوی حاصل کړو قران لره او حاصل ئے کړو حدیث لره بیا حدیث بیان کړو هغۀ مونږ ته (دا دویم حدیث دے) چه امانت به

مِنَ الْقُرْآنِ وَعَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ ثُمَّ حَدَّثَنَا
عَنْ رَفْعِ الْأَمَانَةِ قَالَ يَنَامُ الرَّجُلُ
النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ
فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ الْوَكْتِ ثُمَّ يَنَامُ
النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ
فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ الْمَجْلِ كَجَمْرٍ
دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ فَنَفِطَ فَتَرَاهُ
مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ ثُمَّ أَخَذَ حَصًى
فَدَحْرَجَهُ عَلَى رِجْلِهِ فَيُصْبِحُ النَّاسُ
يَتَبَايَعُونَ لَا يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الْأَمَانَةَ
حَتَّى يُقَالَ إِنَّ فِي بَنِي فُلَانٍ رَجُلًا أَمِينًا
حَتَّى يُقَالَ لِلرَّجُلِ مَا أَجْلَدَهُ مَا أَظْرَفَهُ
مَا أَعْقَلَهُ وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ
خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ وَلَقَدْ أَتَى عَلَيَّ زَمَانٌ
وَمَا أُبَالِي أَيَّكُمْ بَايَعْتُ لَئِنْ كَانَ مُسْلِمًا
لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ دِينُهُ وَلَئِنْ كَانَ نَصْرَانِيًّا أَوْ
يَهُودِيًّا لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ سَاعِيهِ وَأَمَّا الْيَوْمَ
فَمَا كُنْتُ لِأُبَايِعَ مِنْكُمْ إِلَّا فُلَانًا وَفُلَانًا

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ فَقَالَ
أَيُّكُمْ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ يَذْكُرُ الْفِتَنَ فَقَالَ قَوْمٌ نَحْنُ
سَمِعْنَاهُ فَقَالَ لَعَلَّكُمْ تَعْنُونَ فِتْنَةَ
الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَجَارِهِ قَالُوا أَجَلْ قَالَ

پورته شی. نو اوئے فرمایل چه یو سړے به لږ ساعت اوده شی بیا د هغهٔ د زړهٔ نه به امانت اوچت کړے شی او د هغهٔ نخښه به د یو پهیکه رنګ پشان پاتے شی. بیا به یو خوب واخلی نو امانت به ئے د زړهٔ نه پورته شی او د هغهٔ نخښه به د یوے پُنړاکے په شان پاتے شی. لکه تهٔ چه یوه سکروټه په خپه باندے اورغړه وے او بیا د څرمنے د سوزیدو سره یوه پُنړاکه رااوخیژی. د هغے دننه څهٔ نهٔ وی. بیا هغه یوه ګیتئ واخسته او پخپله خپه ئے اوغورځوله او اوئے فرمایل. چه خلق به اخستل او خرڅول کوی. او په هغے کښ به څوک داسے نهٔ وی چه هغه امانت ادا کړی. تردے پورے چه خلق اووائی چه په فلانی قوم کښ یو سړے امانتدار دے او ددے پورې چه یو سړی ته به دا ویلے شی چه هغه څنګه هوښیار او ښهٔ مزاجه او عقلمند دے یعنی د هغهٔ به تعریف کوی، او د هغهٔ په زړهٔ کښ به د اُوری ددانے په مقدار ایمان هم نهٔ وی. بیا حذیفهؓ وائی په ما باندے یوه زمانه تیره شوے ده. هر کله چه به ما بے خطرے د هر یو سره معامله کوله یعنی لین دین ځکه چه کهٔ چرے هغه مسلمان وے. نو د هغهٔ دین به هغه لره د بے ایمانئ نه راا ړولے وو او کهٔ چرے نصرانی یا یهودی وے نو حاکم به هغه د بے ایمانئ نه منع کوو لیکن په نن ورځ خو زهٔ ستاسو خلقو سره چرته هم معامله نهٔ کوم البته د فلانی او فلانی سړی سره به کوم.

د حذیفهؓ نه روایت دے مونږ د امیر المؤمنین حضرت عمرؓ سره ناست وو. هغوی اووے په تاسو کښ چا د رسول اللهﷺ نه د فتنو د ذکر کولو په باره کښ اوریدلی دی. بعضے خلقو اووے آو مونږ اوریدلی دی. حضرت عمرؓ اووے شاید تاسو د فتنو نه هغه فتنے مراد کوئ چه هغه د سړی په کور او په مال او په ګاونډیانو کښ وی. هغوی اووے

تِلْكَ تُكَفِّرُهَا الصَّلَاةُ وَالصِّيَامُ وَالصَّدَقَةُ وَلَكِنْ أَيُّكُمْ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ الْفِتَنَ الَّتِي تَمُوجُ مَوْجَ الْبَحْرِ قَالَ حُذَيْفَةُ فَأَسْكَتَ الْقَوْمُ فَقُلْتُ أَنَا قَالَ أَنْتَ لِلّٰهِ أَبُوكَ قَالَ حُذَيْفَةُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تُعْرَضُ الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ حَتَّى تَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ عَلَى أَبْيَضَ مِثْلِ الصَّفَا فَلَا تَضُرُّهُ فِتْنَةٌ مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ وَالْآخَرُ أَسْوَدُ مُرْبَادًّا كَالْكُوزِ مُجَخِّيًا لَا يَعْرِفُ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُ مُنْكَرًا إِلَّا مَا أُشْرِبَ مِنْ هَوَاهُ قَالَ حُذَيْفَةُ وَحَدَّثْتُهُ أَنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابًا مُغْلَقًا يُوشِكُ أَنْ يُكْسَرَ قَالَ عُمَرُ أَكَسْرًا لَا أَبَا لَكَ فَلَوْ أَنَّهُ فُتِحَ لَعَلَّهُ كَانَ يُعَادُ قُلْتُ لَا بَلْ يُكْسَرُ وَحَدَّثْتُهُ أَنَّ ذٰلِكَ الْبَابَ رَجُلٌ يُقْتَلُ أَوْ يَمُوتُ حَدِيثًا لَيْسَ بِالْأَغَالِيطِ قَالَ أَبُو خَالِدٍ فَقُلْتُ لِسَعْدٍ يَا أَبَا مَالِكٍ مَا أَسْوَدُ مُرْبَادًّا قَالَ شِدَّةُ الْبَيَاضِ فِي

او حضرت عمرؓ اووے د هغه فتنو کفاره خو په مونځ او روژه او زکوٰة سره ادا کیږی لیکن ستاسو نه چا اورریدلی دی هغه فتنو لره د رسول الله ﷺ نه چه هغه به د دریاب د چپو په شان په چپو چپو راځی. حذیفه وائی دد ے په اوریدو ټول خلق چُپ شول ما اووے ما اوریدلی دی حضرت عمر اووے تا اوریدلی دی ستا پلار ډیر ښهٔ وو. حذیفهؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. چه فرمایلی ئے وو. فتنے به په زړونو باندے داسے راځی د یوے نه پس یوه د یوے نه پس یوه لکه د بورئ تارونه چه د یو نه پس یو وی بیا په کوم زړهٔ کښ چه هغه فتنه پیدا شی نو په هغه کښ یو تور داغ پیدا شی. او کوم زړهٔ چه دے لره نهٔ منی. نو په هغهٔ کښ به یو سپین نورانی داغ وی. تردے پورے چه په دے شان به سپین او تور داغونه کیږی کیږی زړهٔ به په دوه قسمه شی یو خو خالص سپین زړهٔ د خوئے ګټے پشان چه هغے ته به یوه فتنه نقصان نهٔ شی رسولے د کومے پورے چه زمکه او آسمان قائم وی. دویم هغه تور او سپین والی ته مائل زړهٔ یا د لوړو خورو پشان چه هغه نهٔ چهٔ ښے خبرے لره ښهٔ خبره ګڼړی. او نهٔ بدی خبرے لره بده ګڼړی مګر هغه چه هغه ددهٔ په زړهٔ کښ وی. حذیفهؓ وائی بیا ما حضرت عمرؓ ته حدیث بیان کړو. چه ستا او ددے فتنے په مینځ کښ یوه دروازه ده. چه هغه بنده ده. مګر نژدے ده چه هغه ماته شی. حضرت عمرؓ اووے چه ماته به شی ستا پلار نشته که چرے بیرته کیږی. نو شاید بیا به ئے بنده کړی ما اووے نه ماته به شی. او ما هغه ته حدیث بیان کړو چه دا دروازه یو سړے دے. چه هغه به اووژلے شی یا به مړ شی. بیا دا حدیث څهٔ غلط ﴿د زړهٔ جوړه شوے خبره﴾ نهٔ وه. او خالد وائی ما د سعد بن طارق نه تپوس اوکړو ﴿کوم چه ددے حدیث راوی دے﴾ اَسْوَدُ مُرْبَادًّا نه څهٔ مراد

دے؟ هغوی اووے د سپین والی شدت په تور والی کښی ما اووے د کَالْکُوْزِ مُجَخِّيًا نه څهٔ مراد دے. هغو اووے کوږ ټيټ شوے[1].	سَوَادٍ قَالَ قُلْتُ فَمَا الْكُوْزُ مُجَخِّيًا قَالَ مَنْكُوْسًا

---

[1] د فتنے اصل معنیٰ ازمائش او امتحان دے. بیائے په عرف کښی دے ته وائی چه دد ے نه یو قسم بدی پیدا شی. ابو زید ویلی دی داسے وائی هغه سړے ه فتنه کښی پریوتو هرکله چه د هغهٔ حال بدل شی او د ښهٔ نه بد شی او فتنه په اهل او مال کښی داده چه د هغوی محبت پر ډیر غالب شی او د خدائے احکامو لره هیر کړی هغه په خائے نه راوړی لکه چه الله فرمایلی دی ستاسو مال او اولاد فتنه ده. یا د اولاد فتنه داده چه د هغوی تعلیم او تربیت نهٔ کوی. او هغه آواره شی. دغه شان فتنه د ګاونډی داده چه د هغهٔ حق نهٔ ادا کوی. نو دا ټولے فتنے د یو قسم ګناه ده چه د هغه کفاره په نیکو سره کیږی. الله تعالیٰ فرمایلی دی نیکۍ ورانوی بدو لره. د حضرت عمر رضی الله عنه مراد د فتنو نه هغه فسادات وو چه هغه به آئنده د حضرت په اُمت کښی ظاهریږی. په دے کښی به د مسلمانانو قتل وغارت وی یا به پکښی ګمراهی خوریږی. حضرت عمر رضی الله عنه اووے تا اوریدلی دی ستا پلار ډیر ښهٔ وو. یعنی چه د هغهٔ د نطفے نه ستا غوندے هلک پیدا شوے دے. په حدیث کښی لِلّٰهِ اَبُوْکَ دے. او دا د مدح یوه کلمه ده. د عربو د خلقو عادت دے چه هر کله د چا تعریف کوی نو هغوی ته نے وائی. ولے چه د پلار نسبت د خدائے طرفته کول د هغهٔ بزرګی بیانول دی. لکه چه ویلے شی بیت الله ، او نَاقَةُ اللهِ صاحب تحریر ویلی دی. هر کلمه چه د هلک نه څهٔ خهٔ خبره وینی نو دا کله وائی. یعنی ستا پلار ډیر ښهٔ وو. چه هغه داسے هلک زیږه ولے دے. «نووی رحمه الله په دے حدیث کښی کَالْحَصِیْرِ عُوْدًا عُوْدًا دے. دے لره په درے قسمه سره لوستلے کیږی. یو عُوْدًا عُوْدًا بضم عین دال مهمله سره. دویم عَوْدًا عَوْدًا په فتح د عین او دال مهمله سره. دریم عَوْذًا عَوْذًا بفتح د عین او ذال معجمه سره. صاحب تحریر صرف اول وجے لره بیان کړے ده او قاضی عیاض درے واړه وجو لره ذکر کړی دی. لیکن اول وجے لره نے اختیار کړے ده. او ویلی دی چه زمونږ شیخ ابوالحسین بن سراج دویمے وجے لره اختیار کړے ده. اوس ددغه دریو وجو ترجمه جدا جدا ذکر کولے شی. د ورمبی وجے ترجمه داده. چه فتنے به په زړونو کښی د یوے نه پس یوه خی راخی. لکه د بورئے تلی چه د یو نه پس یو لګولے شی. یعنی بوریا جوړونکے لکه ورمبے تیلے جوړ کړی هغه پوخ کړی بیادویم تیلے جوړوی پخوی. په دے شان به دا فتنے هم وی چه ورمبے به یوه په زړهٔ کښی جمع شی بیا به دویمه. قاضی عیاض ویلی دی چه خما په نزد د حدیث مطلب دغه دے. او سیاق او تشبیه په دے باندے دلالت کوی. ددیمے وجے ترجمه داده چه فتنے به د زړونو په یو طرف کښی راشی او اُوبه ننبلی. لکه بورے چه د ګندلو والا دوه سره ننبلی او د عُوْدًا عُوْدًا به دا معنیٰ وی چه بار بار به دغه فتنے راخی. ددریمے وجے ترجمه داده. چه فتنے به په زړونو باندے راخے او د بورئیے پشان به پکښی جختیږی. پناه غواړو په خدائے پاک سره ددغه فتنونه. یعنی خدائے دِیج کړی مونږ لره ددغه فتنو نه «نووی» بیا په کوم زړهٔ کښی چه هغ فتنه پیدا شی (یعنی خائے اونیسی او کینی) نو په هغے کښی به یو تور داغ وی. او کوم زړهٔ چه دے لره نهٔ منی او په قرآن او حدیث باندے قائم اوسیږی. په هغه زړهٔ کښی به یو سپینه نورانی نخښه وی. په دے شان به تور او سپین داغونه کیږی چه زړهٔ به په دوه قسمه شی. یو خو خالص سپین زړهٔ د خوئے ګټے په شان (چه په هغے کښی څهٔ شے نهٔ شی لګیدے. دا تشبیه ده د هغه زړهٔ د صفا خوئے ګټے سره. لکه څنګه چه دد ے قسم ګټه صفا او د داغونو نه پاکه وی. دغه شان دا زړهٔ هم د هغه فتنو د ګندګو نه پاک او صفاوی. دویم تور سپین والی ته مائل (یعنی خړ) د اُلټه کوزے په شان چه هغه نه څهٔ ښهٔ خبرے لره ښهٔ ګنړی او نهٔ بدے لره بده. د خپل خواهش تابع وی. په حدیث کښی د مُرْبَادًا لفظ دے. او بعضو دے لره مُرْبَدًا لوستے دے. راوی پخپله دد ے تفسیر مخکښی بیان کړے دے او ویلی دی چه د اَسود مُرْبادًا نه دا مراد دے چه د سپین والے غالب کیدل په تور والی کښی. قاضی عیاض وائی زمونږ بعضو مشانخو ویلی وو چه په دے کښی غلطی شوے ده. یعنی شِدةُ البیاض فی سواد کښی او په خائے د شدت د شُبهه لفظ صحیح

دے یعنی تورو والے مائل سپین والی ته ولے چه په کوم تورو والی کښې سپین والے غالب وی هغے ته رَبْدَه نه شی ویلے بلکه بَلْق ورته ویلے شی کۀ په بدن کښې وی او په سترګه کښې وی نو حُور ورته وائی. او رَبْدَه خو هغه لره شان سپین والے دے چه هغه په تور والی کښې ملاؤ وی لکه څنګه چه د شترمرغ رنګ وی ‹‹ دے واسطه دے ته ربده ویلے شی ابو عبیده د ابو عمرو نه نقل کړے دے چه ربده هغه رنګ دے چه هغه د تور او خړ په مینځ کښې وی ابن ورید وائی ربده تور رنګ ته ویلے شی او بعضے وائی چه په کومه سیاهۍ کښې سیاهی / توررنګ ملاؤ شی او د مُجَخِّیًا معنی اُلْته دد ے تفسیر هم مخکښې راغلے دے قاضی عیاض وائی ماته ابن سراج ویلی دی کلکوز مُجَخِّیًا دا دد ے د تورو والی تشبیه نه ده بلکه د یو دویم وصف بیان دے دد ے د اوصافو نه یعنی هغه زړۀ اُلْته شوے دے لکه چه کوزه اُلْته شی بیا په هغے کښې اُوبه نه شی پاتے کیدے دغه شان به په دغه زړۀ کښې څۀ غوره والے او نیکی او د حکمت خبره نه پاتے کیږی او د هغے بیان څۀ دا به اووایو چه نه هغه ښے خبرے له ښۀ او بدے خبرے لره بده ګنړی قاضی عیاض وائی کوم زړۀ چه نیکے خبرے لره نه مضبوط وی هغے له نے مشابهت ورکړے دے د اړولے کوزے سره چه په هغے کښې اُوبه نه راایساریږی صاحب تحریر وائی د حدیث مطلب دادے چه هر کله سړے د خپل خواهش تابعداری کوی یا د ګناهونو مرتکب کیږی نو د هر یو ګناه په کولو سره د دۀ په زړۀ کښې تیاره راځی بیا هغه په فتنه کښې پریوځی او د اسلام نور بالکل د هغۀ د زړۀ نه روانیږی او زړۀ به شان د اړولے کوزے اُلْته کیږی لکه څنګه چه کوزه نسکوره کړے په هغے کښې چه څۀ وی د هغے نه اوځی او څۀ پکښې پاتے نه شی دغه شان دد ۀ د زړۀ نه د اسلام ټول نُور اووتلے شی بیا بالکل نه راځی ‹‹نووی›› دا چه نے کوم فرمایلی دی چه فتنے به د دریاب د چپو پشان به چپو چپو کښې راځی نو اوس به د فتنو منع کول ممکن نۀ وی او هغه به په چپو چپو د موجونو پشان راتلل شروع شی دا چه کوم حضرت عمر حذیفه ته اووے چه ستا پلار ښۀ سړے دے دا یوه کلمه ده د عربو په ژبه کښې څۀ کار باندے مستعد کولو ته ویلے کیږی یعنی تاله ډېر ښۀ خوک بچ کولو والانشته اګر خیر کیچرے ستا پلار ژوندے وے نو هغه به په مصیبت کښې ستا شریک وو خو به نه دومره تکلیف نه راتلو اوس ته یواځې نے بیا کوشش کوه او خان تیاره وه په خپل بچاؤ کښې ‹‹نووی›› او فرمایلی دی چه ستا او دے فتنے په مینځ کښې یوه دروازه ده یعنی دا دروازه کمه چه اوس بنده ده. او فتنو لره منع کونکے ده د یو سړی ذات دے چه د هغۀ په سبب سره تولے د فساد لارے بندے دی بیا چه هر کله هغه اووژلے شی نو لکه چه دروازه ماته شوه او د فتنو هغه بنده لار آزاده شوه اوس به په درز درز د تولو فتنو چپے به په چپو چپو راتلل شروع شی او ټول خلق به په جوش کښې پریوځی په دویم روایت کښې دی چه هغه ذات دے د حضرت عمر او شاند چه حذیفه د رسول الله ﷺ نه دغه اوریدلی وی د شک په طور باندې چه هغه به اووژلے شی یا به مر شی یا حضرت حذیفه داسے ګنړل چه حضرت عمر به وژلے کیږی لیکن هغوی دد ے صفا بیانول د هغۀ مخامخ بد اوګنړل په دویم روایت کښې دی چه عمر په خپله هم دغه دروازه پیژندله لکه چه نے داخبره پیژندله چه د نن شپه د صبا د ورځې نه مخکښې ده او دا چه کوم حذیفه ویلے دے دا حدیث غلط نۀ وو یعنی د زړۀ جوړ کړے شوے نۀ وو نۀ د اهل کتابو د کتابونو نه ویستلے شوے وو بلکه خاص د رسول الله ﷺ حدیث دے بیا چه کوم رسول الله ﷺ فرمائیلی وو هم هغه شان اوشول او حضرت عمر کوم چه د فتنو منع کونکے وو شهید شو او د هغۀ نه پس برابر د فتنو دروازه ازاده شوه د حضرت عمر شهادت. جنګ جمل. جنګ صفین. قتل خوارج. د حضرت علی شهادت. د حضرت امام حسین شهادت. د کربلا افسوس ناکه واقعه د امام حسین د اهل. بیت نبوی بے حرمتی دمختار بن عبید ثقفی جنګ د معصب جنګ د مختار سره . د عبد الله بن زبیر قتل. په مکه معظمه کښې د اهل مدینه بربادی د یزید په پلید لاس سره او په دے شکل سره زرګونو خرابۍ او فتنے چه تر اوسه پورې د اهل اسلام په خپلو کښې واقع شوی دی سبحان الله د حضرت عمرؓ فضیلت اوبزرګی دپاره د عقلمند سړی په تر یو حدیث هم پوره دے د نورو حدیثونو ضرورت نشته دے چه د هغۀ

عَنْ رِبْعِيٍّ قَالَ لَمَّا قَدِمَ حُذَيْفَةُ مِنْ عِنْدِ عُمَرَ جَلَسَ يُحَدِّثُنَا فَقَالَ إِنَّ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَمْسِ لَمَّا جَلَسْتُ إِلَيْهِ سَأَلَ أَصْحَابَهُ أَيُّكُمْ يَحْفَظُ قَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْفِتَنِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي خَالِدٍ وَلَمْ يَذْكُرْ تَفْسِيرَ أَبِي مَالِكٍ لِقَوْلِهِ مُرْبَادًّا مُجَخِّيًا

د ربعي بن حراش نه روايت دے هر كله چه حذيفهؓ د حضرت عمرؓ خواله راغے نو كيناستو مونږ ته ئے حديث بيانول. هغوى اووے پرون امير المؤمنين هر كه چه زۀ د هغوى په خواه كښ ناست وم. هغه د خلقو نه تپوس اوكړو چه په تاسو كښ چاته ياد دے د رسول اللهﷺ ارشاد دفتنو په باب كښ؟ بيانے بيان كړو حديث لره په هغه شان لكه چه پورته ذكر شو په دے كښ د مُرْبَادًّا او مُجَخِّيًا تفسير نشته دے (لكه چه په پورته روايت كښ دے)

عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ عُمَرَ قَالَ مَنْ يُحَدِّثُنَا أَوْ قَالَ أَيُّكُمْ يُحَدِّثُنَا وَفِيهِمْ حُذَيْفَةُ مَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْفِتْنَةِ قَالَ حُذَيْفَةُ أَنَا وَسَاقَ الْحَدِيثَ كَنَحْوِ حَدِيثِ أَبِي مَالِكٍ عَنْ رِبْعِيٍّ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ حُذَيْفَةُ حَدَّثْتُهُ حَدِيثًا لَيْسَ بِالْأَغَالِيطِ وَقَالَ يَعْنِي أَنَّهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ربعي بن حراش نه روايت دے هغوى اوريدلي دي د حذيفهؓ نه چه حضرت عمرؓ اووے په تاسو كښ څوک د رسول اللهﷺ حديث مونږ ته د فتنو په باره كښ بيان كولے شي؟ هلته حذيفهؓ هم وو. هغهٔ اووے زۀ بيانولے شم بيانے بيان كړو حديث لره په داسے شان لكه چه پورته ذكر شو په دے روايت كښ دادى چه حذيفهؓ ويلي دي ما هغوى ته يو حديث بيان كړو چه هغه غلط نۀ وو (يعني اوريدلے مے وو اخوا ديخوا خبره نۀ وه) بلكه د رسول اللهﷺ نه مے اوريدلے وو

بَابُ بَيَانِ أَنَّ الْإِسْلَامَ بَدَأَ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ غَرِيبًا وَأَنَّهُ يَأْرِزُ بَيْنَ الْمَسْجِدَيْنِ

باب: اسلام شروع شو د غربت سره او بيا به غريب شي او راغونډ به شي د دواړو جماعتونو په مينځ كښ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ غَرِيبًا فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي اسلام شروع شو د غربت نه (په مدينه كښ) او بيا به دغه شان واپس شي لكه څنګه چه شروع شوے وو (په مدينه كښ) نو خوشحالي د وى د

ذات د مقدس آفتونو او بلاګانو منع كونكے. او د اسلام پشت پناه. په كافرانو رعب داب. او په مسلمانانو كښ اتفاق وو. هغه ذات ته بعضے بد ذاته شر پسند په كومه خُله بدواني او د خدائے او د هغهٔ د رسولانو نه نۀ شرميږي

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْإِسْلَامَ بَدَأَ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ غَرِيبًا كَمَا بَدَأَ وَهُوَ يَأْرِزُ بَيْنَ الْمَسْجِدَيْنِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ فِي جُحْرِهَا

د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمایلی دی اسلام شروع شو په غربت کښې. او بیا به غریب شی لکه چه شروع شوے وو. او د دوارو جماعتونو (مکے مدینے) په مینځ کښې به راغونډ شی. لکه مار چه راغونډ شی او په خپل سُوری کښې ننوځی[2].

غریبانو دپاره[1].

---

[1] : اسلام شروع شو د مدینے نه یعنی ورمبے د هغه خلقو نه شروع شو چا چه مدینے منورے ته د مکے معظمے نه هجرت کړے وو راغلی وو. او هغه غریب مسافر وو خپل وطن ئے پریخودے راغلی وو. او بیا به دغه شان شی. یعنی په آخره زمانه کښې بیا به راغونډیږی بیا به مدینے ته راشی. او په ټوله دنیا کښې به د کفر زور وی. کوم چه مسلمانان وی هغه به د کافرو د یرے نه مدینے منورے ته په تیښته سره راځی قاضی عیاض رحمه الله وائی مطلب دحدیث دادے چه ورمبے اسلام شروع شو د څو شمارشوو کسانو نه بیا به په آخره زمانه کښې په دے کښې شان کم شی چه په لږو خلقو کښې به پاتے شی. اوس چه ئے کوم فرمایلی طوبیٰ د غریبانو دپاره نو د طوبیٰ معنیٰ خوشحالی او مزه ده او بعضو د طوبیٰ نه د جنت مراد اخستے دے. او بعضو هغه اونه چه په جنت کښې ده. دا ټولے معنے ئے جوړیږی (نووی رحمه الله)

[2] . قاضی عیاض رحمه الله وائی ددے مطلب دادے چه ایمان اول او آخر په دوارو زمانو کښې به په دغه حال باندے وی. ځکه چه په اوله زمانه کښې چه کوم رښتونی ایماندار وو هغه مدینے ته راغلل. یا خوئے هجرت اوکړو هغے ته د وطن جوړولو دپاره یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملاقات دپاره او د هغهٔ نه د علم حاصلولو دپاره به مدینے راتلل. دغه شان د خلفاؤ زمانه هم وه او دغه شان د هغوی نه پس چه کوم کوم عالمان د خپل وخت پیشوااو امامان تیر شوی دی. هغوی د حدیثو حاصلولو دپاره مدینے ته راغلل او زمونږ د زمانے پورے هم خلق هلته تلل کوی. د رسول الله الله صلی الله علیه وسلم د قبر شریف د زیارت دپاره او د هغه ځائے دنورو مشاهدو او آثارو نه د برکت حاصلولو دپاره. خو مدینے ته نه راځی مګر هغه خلق چه مؤمنان وی (انتهیٰ). په سراج الوهاج کښې دی چه شاید دا واقعه قیامت ته نږدے وی. او ددے حدیث نه دا خبره معلومیږی چه اسلام به د آخرے زمانے پورے وی. او هغه به غریب کړے شی او حرمینو ته به واپس راغونډ کړے شی. او دا وخت تر اوسه پورے رانغے باوجود ددے چه اسلام غریب شوے دے او ځنګه غریب، په دویم روایت کښې دی د عمر بن عوف رضی الله عنه نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. دین به راغونډ شی او حجاز ته به راشی. لکه مار چه خپلے سوړے ته ننوځی. او دین به د حجاز سره په دے شان اوتړلے شی لکه بزه د غر د سر سره او دین شروع شو د غربت نه او بیا به دغه شان شی لکه ځنګه چه شروع شوے وو خوشحالی د وی د غریبانو دپاره. او غُربا، هغه دی چه هغه به سمُوی خما سنتو لره چه هر کله خلق ئے ورانوی. روایت کړے دے دے لره ترمذی. په مرقاة کښې دی چه حجاز د عربو د هغه ټکړے نوم دے چه په هغے کښې مکه او مدینه دی. او د هغے خواؤ شاه کلی دی. او دا خبره خو بعضے وائے چه موندے شی په دے زمانه کښې ځکه چه د ټولے دنیا ښهرونه ډک شوی دی د بے دینئ. او په دے وخت کښې دین غونډ شوے دے د حجاز په طرف او حجاز اشاره ده د هغه مبارکے ټکړے طرفته چه هغے ته یمن ویلے شی. ولے چه په یمن کښې یو جماعت پیدا شوے دے د حدیثو والو چه هغوی برابر کړو هغه سنتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم لره چه خلقو هغه وران کړی وو او تر اوسه پورے بعضے خلق د هغوی نه په یمن کښې باقی دی. یا الله ته مونږ د هغوی نه کړے او زمونږ حشر دهغوی نه حساب کړے. د اردو کتاب مترجم ویلی دی چه مراد د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه حدیث نه دا معلوم شو. چه په آخره زمانه کښې به د اسلام تنزل شروع کیږی او ځائے په ځائے به

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْإِيمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمایلي دي . ایمان به راغونډیږي په مدینه کښې په دے شان سره لکه مار چه راټول شي او پخپله سوړه کښې ننوځي.

کافران په مسلمانانو باندے غالب کیږي تر دے پورے چه ټول ملکونه او ښهرونه به د کافرانو په حکومت کښې راشي. او په هر ځائے به د کافرانو زور شي او په آخر کښې به بیا د غه ښهرونه یعنې مکه او مدینه د کوم ځائے نه چه اسلام شروع شوے وو د مسلمانانو د پناه ځائے وي. او دا امر څۀ ظاهر شوے دے او څۀ باقي دے. د ټولو نه مخکښې چه کوم ملک د مسلمانانو د قبضے نه بهر شو هغه د أندلس ملک وو. د هغه ځائے جمعتونه او مدرسے د مسلمانانو د لاس جوړ شوي تر اوسه پورے یادګار دي. او یو جماعت په قرطبه کښې دومره لوئے دے چه دومره لوئے جماعت په دنیا کښې بل چرته هم نشته دے خو افسوس دے چه نصرٰی غالب راغلل او هغه جماعت لره ئے ګرجه جوړه کړے ده. او د تیرو شوو پنځوسو کالونه خو دومره قدرے زر زر د مسلمانانو تنزل کیږي او د هغوی حکومتونه بربادیږي کۀ چرے داسے پاتے شوه نو خدائے دنۀ کړي په ډیره نږدے زمانه کښې به د مسلمانانو حکومت په دنیا کښې صرف په مکه معظمه او مدینه منوره کښې صرف پاتے شي. او هغه ملکونه چه هلته د سوونو کالو نه مخکښې مسلمانان اوسیدل او قصبے او ښهرونه ئے وو او د کافرانو پکښې نوم او نخښه نۀ وه. اوس چه په هغه ملکونو باندے کافران بادشاهان دي او مسلمانان قلیل او خوار دي ورمیے د هندوستان غونډے لوئے او وسیع او زرخیز ولایت د مسلمانانو د قبضے نه اووتو د نصرٰاؤ په قبضه کښې راغے اوس یو څو ورځے تیرے شوے چه کاشغر لره د چین بت پرستو واخستو. او د بخارا او خیوا او وسط ایشیا ملکونو لره د روس نصرٰاؤ قبضه کړل او بلقان او ابوسینیا او سرویا او جبل اسود چه د روم د سلطان زیر اثر وو هغه مختار شول دغه شان د یونان حاکم نصراني بادشاه خودمختار شو. اوس په دے وخت کښې کله چه زۀ دا دے حدیث تفسیر لیکم د مرو او د ترکمانانو ملک د روس نصرٰاؤ قبضه کړے دے او اوس دهغوی نظر په دے افغانستان باندے هم دے. او د دے طرفه د هندوستان نصرٰی په افغانستان باندے دعوه کوي. او ولایت مصر لره ئے د سلطان روم د اختیار نه ویستو او هلته ئے خپل اقتدار کلک کړے دے. او د جزیرۀ عرب څو بندرګاهونه لکه، عدن او سواکن وغیره ئے پخپله قبضه کښې کړي دي اوو دوه سلطنتونه د نوم دپاره باقي دي. یعنې د روم او ایران حکومت. هغه هم د نصرٰاؤ د یرے نه په لړزان کښې دي او د هغوی د مرضئ موافق انتظام کوي. د حدودِ شرعیه نوم او نخښه نشته د فسق وفجور علی الاعلان بازار ګرم دے. اوس هغه زمانه ډیره نږدے معلومیږي. هر کله چه به د نوم دپاره هم د مسلمانانو یو سلطنت او حکومت پاتے نۀ شي او هغه به ټول د نصرٰاؤ رعیت جوړ شي او کوم چه بچ مسلمانان وي هغه به د هغوی د حکومت نه تختي او په مکه او مدینه کښې به ساه اخلي ریعني آرام به مومي په دغه وخت به د دے حدیث په پوره طور سره ظهور اوشي. کۀ څوک اووائي چه په مکه او مدینه کښې خو دا وخت په خپله د بدعاتو زور دے. او د قران او د حدیث د نشر نه هلته څۀ شیطانان دي. چه هغه مانع دي. بیا د اسلام د راغونډیدو نه د مکے او مدینه طرفته به څۀ مراد وي؟ نو د دے جواب دا دے چه د دغه شیطانانو زور په مکه او مدینه کښې في الحال دے هر کله چه ربښتوني او پاخۀ مسلمانانو په ټوله دنیا کښې هر طرفته خوارۀ شوي دي. بیا چه هر کله دا ټول ربښتوني مسلمانان د کافرو نه اویریږي او مکے اومدینے ته راشي جمع شي. نو دهغه شیطانانو به په ښۀ شان سره خبرواخلي. په دغه وخت کښې به د لوئے ازادئ سره د کتاب او سنت تابعداري په حرمینو شریفینو کښې جاري شي. او د بدعاتو سره به په ښۀ طریقه اوحقیږي څوک چه ژوندي پاتے وي هغه به دے لره اووینی انشاء الله تعالٰی

بَابُ ذَهَابِ الْإِيمَانِ آخِرَ الزَّمَانِ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الْأَرْضِ اللهُ اللهُ

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ عَلَى أَحَدٍ يَقُولُ اللهُ اللهُ

بَابُ جَوَازِ الْاِسْتِسْرَارِ بِالْإِيمَانِ لِلْخَائِفِ

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْصُوا لِي كَمْ يَلْفِظُ الْإِسْلَامَ قَالَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَتَخَافُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ مَا بَيْنَ السِّتِّ مِائَةٍ إِلَى السَّبْعِ مِائَةٍ قَالَ إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ لَعَلَّكُمْ أَنْ تُبْتَلَوْا قَالَ فَابْتُلِينَا حَتَّى جَعَلَ الرَّجُلُ مِنَّا لَا يُصَلِّي إِلَّا سِرًّا

باب په اخیره زمانه کښ د ایمان ختمیدل

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی قیامت به نه قائمیږی د کومے پورے چه په زمکه کښ الله الله ویلے کیږی[1]

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی قیامت نه قائمیږی په هغه سړی باندے چه هغه الله الله وائی (بلکه هر کله چه هغه مړ شی په دغه وخت قیامت وی)

باب: کوم سړے چه یریږی د خپل عزت یا خان د تلو نه نو هغه ایمان پټ ساتلے شی

د حذیفه نه روایت دے مونږ د رسول الله ﷺ سره وو هغوی اوفرمایل شمار کړئ څومره سړی د اسلام قائل دی بیا مونږ اووے یا رسول الله ولے ته یریږے په مونږ باندے (په څه افت راتلو سره د دشمنانو د وجے نه) او مونږ د شپږ سوو سړو نه واخله د اوو سوو پورے یو حضرت ﷺ اوفرمایل. تاسو نه پوهیږئ شاید چه په بلا کښ گرفتار شئ حذیفه وائی بیا داسے اوشوه مونږ په بلا کښ پریوتو تردے پورے چه بعضو زمونږ نه مونځ هم په پټه سره کولو[2]

---

[1] بیا چه هر کله څوک د الله نوم اخستونکے والا پاتے نه شی هغه وخت به قیامت قائمیږی نووی رحمه الله وائی مراد دادے چه قیامت به هغه وخت وی هر کله چه ټول خلق بدترین پاتے شی. لکه په دیم روایت کښ دی او د یمن د طرفنه به یو هوا راشی قیامت نه تردے نو ټول مؤمنان به مړه شی ددغے هوا نه داخبره معلومه شوه چه په زمکه کښ به څوک د الله نوم اخستلو والا پاتے نه شی ورمبی خو ماته د قیاس نه لرے معلومیده. خو په دے زمانه کښ م تصدیق اُوشو او په حدیث باندے مے کامل یقین راغے زمونږ په زمانه کښ د الله نه منکر ډېر خوارهٔ شوی دی او چه څوک د الله نوم اخلی نو خاندی ورپورے بیا قیامت ته نږدے داسے قسم بدبخته منکرین یعنی دہریان یا نیچریان به پاتے شی او د الله منونکی به ټول اوچت کړے شی.

[2] یعنی زمونږ تعداد دومره قدرے دے. بیا مونږ ته د دشمنانو نه څه یره ده تاسو ولے یریږئ د بخاری په روایت کښ یو زر پنځهٔ سوه دی او په یو روایت کښ پنځهٔ سوه دی او دا اختلاف نے داسے رفع کړے دے. چه ښځے او بچی ټول یو ځائے شی نو یو زر پنځهٔ سوهٔ جوړیږی او سړی به شپږ سوه، اوو سوه وی او د جنگ قابل به پنځهٔ سوه وی سبحان الله د صحابه کرامو رضی الله عنهم زړهٔ داسے

بَاب تَأَلُّف قَلْبِ مَنْ يَخَافُ عَلَى إِيمَانِهِ لِضَعْفِهِ وَالنَّهْيِ عَنْ الْقَطْعِ بِالْإِيمَانِ مِنْ غَيْرِ دَلِيلٍ قَاطِعٍ

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْمًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَعْطِ فُلَانًا فَإِنَّهُ مُؤْمِنٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مُسْلِمٌ أَقُولُهَا ثَلَاثًا وَيُرَدِّدُهَا عَلَيَّ ثَلَاثًا أَوْ مُسْلِمٌ ثُمَّ قَالَ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ مَخَافَةَ أَنْ يَكُبَّهُ اللهُ فِي النَّارِ

باب: د كوم سړي چه ضعيف الايمان وي د هغهٔ زړهٔ ملاوول او د کومې پوړے چه د ايمان يقين نه وي چا سړی ته مومن نهٔ ويل

د سعد بن ابی وقاص نه روايت دے رسول الله ﷺ څهٔ مال ويشلو نو ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ، فلانی ته ورکړه هغه مؤمن دے «رسول الله»اوفرمايل مسلمان دے ما درے واره داسے اووے چه هغه مؤمن دے. هغوی هروار دا فرمائيل چه مسلمان دے بيا هغوی اوفرمايل زهٔ يو سړی لره ورکوم حالانکه بل لره د هغهٔ نه زيات غواړم د دے يرے نه چه چرے خدائے پاک دهٔ لره پرمخے په جهنم کښ اونهٔ غورځوی[1]

مضبوط وو چه صرف په شپږ شوه اووه سوه سړو باندے هغوی لره د دشمنانو نه يره نهٔ وه او يو دا زمانه ده چه صرف په هندوستان کښ اوداکروړه مسلمانان دی او په ټوله دنيا کښ به د شلو کروړو نه کم نهٔ وی بياهم د خپلو دشمنانو نه دومره يريږی چه د هغے انتها نشته دے او فرمايلی ئے وو تاسو نه پوهيږئ کيدے شی چه په بلا کښ گرفتار شئ يعنی دا په هغه فتنو کښ اوشوه کومے چه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس ظاهرے شولے او مسلمانان په خپلو کښ په جنگ شو بيا داسے مصيبت راغے چه مونځ کول گران شو يو د يو په فکر کښ وو اکثر به ئے په کور کښ مونځ کولو او په جماعت کښ جمع کول بند شو زمونږ په زمانه کښ هم مسلمانان يو بل داسے دشمنان شوی دی چه د يوے محلے په جماعت کښ دويمے محلے والا مونځ نهٔ کوی حالانکه مونځ يو داسے عبادت دے چه يهود او نصرٰی هم د دے نه منع نهٔ کوی او ما د يو يهودی نه تپوس اوکړو چه مونږ ستاسو په گرجا کښ مونځ اوکو؟ هغهٔ راته اووے په شوق سره اوکړه چه گرجه د خدائے کور دے د چا ملک نهٔ دے بيا چه څوک غواړی په دے کښ د خدائے يادوی او د هغهٔ بندگی د کوی افسوس دے چه د يهوديانو خو دا خيال وی او د مسلمانانو دا کيفيت دے چه کهٔ په يوه مسئله کښ څوک د هغوی نه خلاف کوی نو بيا هغه لره خپل جماعت ته نهٔ پريږدی لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الله تعالٰی فرمائی د هغهٔ نه زيات ظالم څوک دے چه هغه د الله په جماعتونو کښ د الله ديادولو نه چا لره منع کړی تولو خاوندانو د قبلے لره لازم دی چه چابنده لهر خواه کهٔ هغه ئے هر څومره مخالف وی جماعت نه د راتلو نه او په هغے کښ د مونځ کولو نه نهٔ منع کوی تردے پورے چه شيعه او خوارج او مُعتزله لره هم د جماعت نه او په هغے کښ د مانځهٔ نه منع کول صحيح نهٔ دی

[1] يعنی تهٔ دهٔ ته يقينًا مؤمن څنگه وائے شايد مسلمان وی نو دا وايه هغه مومن دی يا مسلمان دے نو د دے نه د هغهٔ د ايمان انکار نه شی وتلے بلکه منع ئے کهٔ دهٔ لره هغوی د يقينًا مومن ويلو نه د دے وجهے نه چه د هغهٔ ايمان په دليل يقينی سره ثابت شوے نهٔ وی دويمه دا چه ايمان يو قلبی فعل دے ددهٔ په حال باندے الله بنهٔ پوهه دے په خلاف د اسلام چه هغه ظاهر دے په ژبه سره د اقرار

عَنْ سَعْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَى رَهْطًا وَسَعْدٌ جَالِسٌ فِيهِمْ قَالَ سَعْدٌ فَتَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُعْطِهِ وَهُوَ أَعْجَبُهُمْ إِلَيَّ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مُسْلِمًا قَالَ فَسَكَتُّ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مُسْلِمًا قَالَ فَسَكَتُّ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا عَلِمْتُ مِنْهُ فَقُلْتُ يَا

د سعدبن ابی وقاص نه روایت دے رسول الله ﷺ څهٔ خلقو لره مال ورکړو. او زهٔ هلته ناست وم نو هغه بعضو لره ورنهٔ کړو حالانکه هغه خما په نز په هغه ټولو کښ غوره وو ما اووے یا رسول الله ﷺ تا خو فلانی لره ورنهٔ کړو. زهٔ خو په خدائے قسم دے چه دهٔ لره مومن ګنړم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: یا مسلمان بیا د لږ وخته پورے زهٔ چُپ پاتے شوم. ورستو ددےنه دغے خیال زور اوکړو او ما اووے یار رسول الله ﷺ تا فلانی لره ولے ورنهٔ کړو قسم په خدائے پاک دے چه زهٔ دهٔ لره مومن ګنړم حضرت ﷺ اوفرمائیل: یا مسلمان. بیا څهٔ لږ غوندے وخت زهٔ چپ پاتے شوم .ددےنه پس بیا دغه خیال زور اوکړو او ما اووے یا رسول

کولو نه صاحب تحریر وانی چه په دے کښ اشاره ده د هغه سړی د نهٔ مومن کیدو. حالانکه په دے کښ اشاره ده د هغه سړی د مومن کیدو خکه چه وړاندے هغه اوفرمایل! چه بعضے سړی لره زهٔ زیات غوارم خو ورکړه نوروته. داسے نهٔ وی چه هغه په جهنم کښ پرمخے ګذار شی. ددے حدیث نه دا خبره ثابتیږی. چه په ایمان او اسلام کښ فرق دے. او په دے مسئله کښ ډیر لوئے اختلاف دے او څهٔ بیان ددے وړاندے تیر شوے دے او په دے کښ اشاره ده د هغه مذهب طرفته چه هغه حق دے. چه فقط په ژبه سره اقرار کول کافی نه دی د کومے پوری چه ئے د زړهٔ نه یقین نهٔ وی او کرامیه او بعضے مرجیه دا وائی چه صرف په ژبه سره اقرار کول کافی دی. حالانکه دا صفا غلطی ده او خلاف دے د مسلمانانو د اجماع نه. او خلاف دے د نورو آیتونو او احادیثو نه چه د هغے نه د منافقانو کفر ثابتیږی. حالانکه د منافقانو هم دغه حال وو. چه هغوی به د زړهٔ نه یقین نهٔ لرلوخو په ژبه سره به ئے اقرار کولو (نووی). حضرت ﷺ اوفرمائیل زهٔ ئے دغه سړی لره ورکوم. حالانکه بل لره ددهٔ نه زیات غوارم یعنی بعضے سړی ضعیف الایمان وی. او زهٔ دهٔ لره د دنیا مال ورکوم نو ددے وجے ئے نهٔ ورکوم. چه زهٔ دهٔ لره زیات غوارم. خو زهٔ نورو لره چه د چا ایمان قوی دے. خو ضعیف الایمان لره د هغهٔ د ایمان بچ کولو د پاره ورکوم. چه داسے نهٔ وی چه د دنیا په مال نه ملاویدو سره خفه شی. او د اسلام نه واوړی او په جهنم کښ پرمخے ګذار شی او د چا چه ایمان قوی دے هغوی ته دومره ضرورت د مال د ورکول نشته دے. ولے چه هغه د ایمان نه واپس کیدونکی نهٔ دی امام نووی ویلی دی ددے حدیث نه دا خبره ثابته شوه چه حاکم ته په جائز کار کښ سفارش کول صحیح دی. او بار بار دغه خبره کول هم جائز دی. او مفضول فاضل ته هغه خبره ښودلے شی چه د هغے څهٔ مصلحت وی. او فاضل لره ضروری نهٔ ده چه مشوره قبوله کړی بلکه په دے کښ به غور او فکر کوی. کهٔ چرے د مصلحت نه خلاف وی نو هغے لره رد کولے شی او چا ته په یقین سره مومن نهٔ دی ویل پکار د کومے پورے چه دلیل یقینی نهٔ وی او امام د خپل رائے په مطابق مال لره صرف کولے شی په ضروری کار کښ بیا چه کوم ددی نه پس ضروری وی. دغه شان د بل چا جنت ته د تلو یقین نشته مګر د چا د پاره چه نص راغلے وی لکه عشره مبشره وغیرهم او په دے باندے اجماع ده د اهل سنتو.

رَسُوْلَ اللهِ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مُسْلِمًا إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ

الله ! تا د ے فلانی لره ولے ورنه کړو. قسم په خدائے چه زهٔ خو د ے مومن گڼړم. حضرت ﷺ اوفرمایل یا مسلمان. زهٔ نے ورکوم یو سړی لره او د دویم سره م زیات محبت وی دد ے وجے نه چه چرته پرمخے په جهنم کښ گزار نهٔ شی.

عَنْ سَعْدٍ أَنَّهُ قَالَ أَعْطَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا وَأَنَا جَالِسٌ فِيهِمْ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ وَزَادَ فَقُمْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ

د سعد ؓ نه روایت د ے . رسول الله ﷺ څه خلقو لره ورکړل زهٔ ناست وم.بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان سره لکه چه پورته ذکر شو. دومره زیات د ے . چه آخر زهٔ پاڅیدم او ما په پټه سره اووے یا رسول الله ﷺ تا فلانی لره ولے پریخودو؟

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ يُحَدِّثُ هٰذَا فَقَالَ فِي حَدِيثِهِ فَضَرَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ بَيْنَ عُنُقِي وَكَتِفِي ثُمَّ قَالَ أَقِتَالًا أَیْ سَعْدُ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ

د محمد بن سعد ؒ نه دا حدیث روایت کړے شوے د ے . په د ے کښ دادی چه رسول الله ﷺ خپل لاس خما د څټ او اوگے په منیځ کښ اُووهو.او اوئے فرمائیل څهٔ جنگ کوے اے سعد ! زهٔ ورکوم یو سړی ته (د آخره پورے)

بَاب زِيَادَةِ طُمَأْنِينَةِ الْقَلْبِ بِتَظَاهُرِ الْأَدِلَّةِ

باب : هر کله چه د لیلونه ښهٔ اورسی نو زړهٔ ته اطمینان حاصل شی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ قَالَ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلَى وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي قَالَ وَيَرْحَمُ اللهُ لُوطًا لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ طُولَ لَبْثِ يُوسُفَ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ

د ابوهریره ؓ نه روایت د ے . رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مونږ ته به شک ولے نهٔ وی هر کله چه ابراهیم ؑ ته شک شوے وو. هغوی اووے اے پروردگاره ما ته اوښایه چه تهٔ به څهٔ شان ژوندی کوے مړولره. پروردگار اوفرمایل ولے ستا یقین نهٔ کیږی د د ے خبرے. حضرت ابراهیم ؑ عرض اوکړو ولے نه خما یقین د ے. خو زهٔ غواړم چه خما زړهٔ ته نور زیات اطمینان ملاؤ شی. او رحم دِ اوکړی خدائے پاک په حضرت لوط ؑ باند ے چه هغه پناه غوښتلی وه د مضبوط سخت. او کهٔ چرے زهٔ په قید خانه کښ دومره ورځے پاتے شوے وے لکه څومره ورځے چه یوسف ؑ اوسیدلے وو. نو فوراً به د

غوښتونکي والاسره تلے وم[1]

[1] امام نوویؒ وائی علماؤ اختلاف کړے دے دے عبارت په مطلب کښں چه مونږ ته به شک ولے نه وی چه هر کله ابراهیمؑ ته شوے وو په ځو اقوالو باندے د ټولو نه بهتر او صحیح هغه دے چه هغه امام ابوابراهیم مزنی او یو جماعت د علماؤ بیان کړے دے یعنی مطلب دد ے دادے چه ابراهیم ته شک کیدل محال وو او که چرے هغهٔ ته د پیغمبرئ باوجود شک وے نو نورو پیغمبرانو ته به هم شک وو حالانکه تاسو ته پته ده چه ماته شک نشته دے نو حضرت ابراهیم ته هم شک نه وو او دا هغه دد ے دپاره اوفرمایل چه هر کله دا آیت نازل شو إِذْ قَالَ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتَىٰ نو بعضے خلقو په ابراهیمؑ باندے غلط ګمان اوکړو او دائے اووے چه هغهٔ ته شک شوے وو د مړو په دوباره ژوندی کیدو کښں او زمونږ پیغمبر ته شک نه وو شوے لیکن هغه د هغوی د ګمان د غلط کولو دپاره اوفرمایل چه حضرتِ ابراهیم پیغمبر وو او پیغمبر هم داسے چه خلیل الله بیا کهٔ چرے هغهٔ ته شک وے نو ماته به هم ضرور شک وو حضرت براهیم حضرتﷺ د خپل خانِ دپاسه مقدم کړو په طریقه د ادب او تواضع او کیدے شی چه دغه وخت هغوی ته معلومه شوے نه وی چه هغوی د ټولو پیغمبرانو نه په درجه کښں زیات دی بیا اختلاف کړے دے علماؤ چه هر کله ابراهیمؑ ته شک نه وو نو هغوی خدائے پاک ته درخواست ولے کوو چه ماته اوښایه چه ته څنګه ژوندی کوے مړو لره بیان شوی دی څو وجهو لره لیکن ظاهره ده چه د ابراهیم په مړو ژوندی کولو باندے یقین وو خو هغوی غوښتل چه نور زیات زړهٔ ته اطمینان راشی او دا په دے شان دے چه ورمبے حضرت ابراهیم د دلائلو نه علم حاصل کړے وو چه الله مړو لره ژوندی کوی لیکن هغوی په خپلو سترګو سره دا امر لیدلے نه وو په دے واسطه هغوی غوښتل چه علم استدلالی لره اولولی یقین حاصل شی او هغه په مشاهده سره کیږی ولے چه په علم استدلالی کښں شکوک باقی پاتے کیږی او بیا په مشاهده سره هغه ټول شکونه ختمیږی دا مذهب دے د امام ابومنصور ازهری دویمه وجه داده چه حضرت ابراهیم خپل خان لره د خدائے پاک په حضور کښں ازمایل غوښتل چه خدائے پاک د هغهٔ درخواست قبلوی او که نه قبلوی په دے صورت کښں د أَوَلَمْ تُؤْمِنْ معنی به داوی چه ولے ستا یقین نشته دد ے خبرے چه ته خما دوستے اوستا مرتبه او درجه خما په نزد لویه ده دریمه وجه داده چه حضرت ابراهیم خپل یقین لره زیاتول غوښتل اګر چه وړاندے هم د هغهٔ یقین وو او شک نے بالکل نه وو خو هغه علم الیقین وو هغوی غوښتل چه دد ے نه اوچته د عین الیقین درجه د حاصله کړی څلورمه وجه داده چه هر کله هغوی په مشرکانو باندے دلیل قائم کړو چه خما پروردګار مړهٔ کول او ژوندی کول کوی نو د خدائے نه نے اوغوښته چه دا امر راته اوښایه څکه چه د هغوی دلیل صفا او ثابت شی او بعضے نورے وجهے بیان کړی دی خو هغه ظاهر نه دی امام ابوالحسن واحدی وائی اختلاف کړے دے خلقو چه ابراهیم دا سوال ولے اوکړو نو اکثر خلقو ویلی دی چه هغه یو مردار ځناور ددریاب په غاړه اولیدهٔ چه هغے لره ځناورو او مرغانو او د دریاب ځناورو خوړلو د هغوی دا خیال راغے چه دد ے ځناور ټکړے به څنګه یو ځائے شی او د هغوی په زړهٔ کښ شوق راغے چه د مړو ژوندی کول اووینی هغه ته شک نه وو لیکن هغه دا خبره غوښته چه دے لره اووینی لکه مومنان چه غواړی چه رسول اللهﷺ او جنت مو اولیدلے او د خدائے د دیدار طلب ګار دی حالانکه هغوی ته یقین دے دے ټولو او شک نشته دے په هغے کښں انتهی او اوفرمایل چه رحم د اوکړی الله تعالی په حضرت لوطؑ باندے چه هغه پناه غوښتلے وه یعنی هر کله چه فرښتو د الله عذاب راخستے د لوط په خدمت کښں راغلے نو د خائسته هلکانو په جامو کښں راغلے وے حضرت لوط هغوی لره میلمانه اوګڼړل او د هغوی میلمستیا کول نے غوښتل خو د هغهٔ د قوم خلق چه په لواطت او د هلکانو سره بدعملئ کښں ګرفتار وو جمع شو راغلل او هغه میلمانهٔ نے تنګول غوښتل حضرت لوطؑ لګ ساعت د هغه میلمنو په زړهٔ ساتلو او خوشحاله کولو کښں پرے نخودهٔ او د خپل قوم خلقو ته نے اووے د خدائے نه اویریږئ او ما د خپلو میلمنو په مخکښں مه رسوا کوئ او که ستاسو دغه شان خواهش وی نو خما لونړه حاضرے دی دغه هم هغوی اونه منله بیا حضرت لوط اوفرمایل اے کاش که

بَاب وُجُوبِ الْإِيمَانِ بِرِسَالَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جَمِيعِ النَّاسِ وَنَسْخِ الْمِلَلِ بِمِلَّتِهِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا قَدْ أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَى اللهُ إِلَيَّ فَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

باب: زمونږ د پیغمبر محمد ﷺ په پیغمبرئ یقین کول او ټول شریعتونه د هغوی په شریعت منسوخ ګنړل واجب دي

د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلي دي. هر یو پیغمبر ته هغه معجزے ملاؤ شوي دي چه هغه د هغه نه مخکښې بل پیغمبر ته ملاؤ شوے وے. بیا ایمان راوړے په هغې بانده بنده لیکن ماته چه کومه معجزه ملاؤ شوے ده هغه قرآن دے. چه الله تعالی ماته رالیږلے دے (داسے معجزه چا پیغمبر ته نه ده ملاؤ شوے) خکه زهٔ اُمید کوم چه خما تابعداری کونکی به د ټولو نه زیات وي. د قیامت په ورځ[1].

چرے په ما کښې زور وے. نو تاسو به مے منع کړے وے. یا به مے پناه اخستے وه د چا مضبوط سخت نه یعنی کهٔ خما خاندان وے. نو د هغوی پناه به م اخستے وه. او دا چه کوم هغوی د خپل قوت او د خپل خاندان والاد پناه ذکر اوکړو نو داددے وجے نه نه وو چه هغه د خدائے نه غافل وو. بلکه هغوی د خپلو میلمنو د زړهٔ خوشحالول غوښتل. چه خما وس د کومے پورے چلیدے نو ما به تاسو بچ کولی؛ لو کیدے شي چه د ډیر وخت په تکلیف کښې نے د الله تعالی پناه غوښتل هیر شوي وي. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل ا چه خدائے پاک د په هغه بانده رحم لوکړي فرمایلي وو چه کهٔ چرے زهٔ په قید خانه کښې دومره ورځے پاتے وے څومره چه حضرت یوسف پاتے وو. نو فوراً به د غوښتونکي والا سره تلے وم. یعنی هر کله چه د زلیخے په تهمت سره یوسف قید شو نو د څهٔ مودے پورے په قید خانه کښې و. آخر د عزیز مصر د طرفنه یو بلنے والا راغے. چه لږ شه د عزیز مصر د خوب مطلب بیان کړه. مګر حضرت یوسف اُو نه منل او اوئے فرمایل چه د کومے پورے چه د ښځو د مکر تپوس او نه شي او خما صفائي بالکل اونه کړے شي. د هغه وخته پورے زهٔ نه راوځم. نو زمونږ پیغمبر ﷺ د حضرت یوسف فضیلت بیان کړو چه په هغه کښې دومره قدرے صبر او استقلال وو. چه دومره په بل کښې کیدل مشکل دي لیکن انسان چه کله په مصیبت کښې ګرفتار شي نو په څهٔ طریقه چه کیدے شي. د هغے نه په خلاصی کښې تادي کوي.

[1] یعنی خما معجزه قرآن داسے ښکاره معجزه ده. چه هغه مخکښې چا پیغمبر ته نه ده ملاؤ خکه به خما تابعدار زیات وي. یا قرآن داسے معجزه ده چه په هغے کښې د سحر وغیره شبه نهٔ شي کیدے په خلاف د نورو معجزو چه په هغے کښې د سحر وغیره شُبه کیدلے شوله خکه خما تابعداری کونکی به زیات وي. یا د نورو پیغمبرانو معجزے تیرے شوے. لکه څنګه چه د هغوی زمانه تیره شوه او خما معجزه چه قرآن دے د قیامته پورے باقي ده. او هغه معجزه په دے واسطه ده چه د قرآن طرز بیان او د هغے فصاحت او بلاغت او د غیبو حالات ټولو بنیادمو لره عاجز کړل چه څوک خو د ددے په مثل یو سورت هم جوړ کړي. کهٔ چرے هغه ټول جمع شي بیا هم نهٔ شي کیدے. او نن دپارلس سوه کاله تیر شو په زرګونو د قرآن مخالفین شول خو د چا نه دا اونهٔ شوه چه ددے په مقابله کښې یو سورت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلی دی قسم دے په هغه چه د هغهٔ په لاس کښ د محمدؐ روح دے ددے زمانے یعنی خما د وخت او خمانه روسته د قیامت پورے څوک یهودی یا نصرانی یا بل څهٔ دین والا چه خما حال واوری او بیا ایمان رانهٔ وړی په هغه باندے چه دائے ماله راکړاو را لیږلے یم یعنی قرانٔ نو جهنم ته به ځی [1]

جوړ کړی زمونږ په زمانه کښ بعضے د عقل دشمنان هندی روږ داسے رااوتی دی چه د قران عربیت لره فصیح نهٔ گڼړی او په دے کښ اعتراض کوی کهٔ څوک د هغوی نه تپوس اوکړی چه تاسو په عربئ ژبه کښ څهٔ لیاقت پیدا کړے دے. او په صرف و نحوه هم پوهیږے او کهٔ نه. نو جواب ملاؤ شی چه نه. سبحان الله! چیندخ ته هم زکام راغے. لوئے لوئے د عربو اهل زبان خو د قران په اوریدو سره حیران شول او ایمان ئے راوړو او د نن ورځے پورے ددے د فصاحت او بلاغت او طرز بیان د بے مثل کیدو اقرار کوی. خو دا پرونی هلکان او هندی کمزوری بوډاگان چه د هغوی نه څوک د مسلمانانو په حکومت کښ د حیثیت تپوس نهٔ کوی د مسلمانانو مصلح جوړ شوی ناست دی او دا اصلاح کوی چه حدیث او قران لره ختموی. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ بیا چه کوم رسول الله ﷺ په دے حدیث کښ فرمایلی دی چه خما اُمید دے چه خما تابعداری کونکی به زیات وی د قیامت په ورځ. دا هم د هغوی یوه معجزه ده. ولے چه د هغهٔ دوفات نه پس الله تعالی اسلام ته داسے رونق ورکړو چه د مشرق نه د مغرب پورے خور شو. او لوئے لوئے ولایتونه مسلمانانو فتح کړل او څنګه اُمید چه هغه کړے وو. دغه شان خدائے پاک وراوخودو. د خدائے پاک شکر دے د هغهٔ په نعمتونو باندے چه بے انتها دی اے خدایه څنګه چه تا مخکښ اسلام له ترقی ورکړے وه. او مخالفین د ورله ښکته کړی وو. دغه شان په دے زمانه کښ هم د اسلام مدد اوکړه. او خپل رښتونی دین لره او په خپل فضل او کرم سره د مسلمانانو زړونو لره مضبوط کړه. ددے دپاره چه هغه بیا ستا ددین په ترقئ کښ مصروف وی. او په دنیا کښ نیک نامی او عزت او په آخرت کښ ثواب او جنت حاصل کړی آمین یا رب العالمین.

[1]: امام نوویؒ وائی ددے حدیث نه ثابته شوه چه ورمبی شریعتونه منسوخ شول زمونږ د پیغمبر په شریعت سره. او دا خبره ثابته شوه چه چا ته د اسلام دعوت نهٔ وی رسیدلے هغه معذور دے. ولے چه دا قاعدة په اصولو کښ ثابته شوے ده. چه د شریعت د راتلو نه وړاندے څهٔ حکم په انسان باندے نهٔ کیدو انتهٰی. اگر چه په دے زمانه کښ مسلمان په هر یو ملک او ولایت کښ خور شو. خو هغه ټول نه ټول ددنیا په کارونو کښ مشغول دی. او دین هغوی بالکل هیر کړے دے. اِلَّا مَا شَاءَ الله ددین دعوت کافرانو ته خو څهٔ چه عامو مسلمانانو ته هم ددین احکام نهٔ ښائی تردے پورے چه اکثر مسلمانان د شریعت د احکامو نه بالکل ناخبره شوی دی. او صرف د نوم دپاره ورته مسلمانان ویلے کیږی. دا دعوت او جهاد داسے ضروری څیز دے چه هر یو پیغمبر خپل ټول عمر په دے کښ صرف کړےدے. او د هغے فائدے بے حده او بے شماره دی. هر کله چه عیسٰی علیه السلام د الله تعالی حضور ته تشریف یوړو نو د هغه خواریانو ددین دعوت خورول شروع کړل. او باوجود ددے چه د هغوی مخالف زور آور د دنیا حاکمان وو خو آخر هغه دعوت رورو داسے اثر اوکړو چه د مخالفینو قوت مات یعنی ختم شو. او په زرګونو لکونو د هغوی نه عیسایان شول او د عیسایانو قوت ددے پورے زیات شو چه په توله دنیا کښ د هغوی دین خور شو. دغه رنګے زمونږ د زمانے پورې د هغے دعوت اثر باقی دے. او تر اوسه پورے عیسائی عالم خپل دعوت نهٔ پریږدی. او شپه او ورځ په تحریر او تقریر سره عیسوی مذهب له تائید او مدد ورکوی او د کوم ملک د خلقو نه چه واوړی چه هغه د عیسوی دین نه ناخبره دی. هلته فوراً په څهٔ شکل چه کیدے شی خپل خان رسوی په دے کار

عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ رَأَيْتُ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ خُرَاسَانَ سَأَلَ الشَّعْبِيَّ فَقَالَ يَا أَبَا عَمْرٍو إِنَّ مَنْ قِبَلَنَا مِنْ أَهْلِ خُرَاسَانَ يَقُولُونَ فِي الرَّجُلِ إِذَا أَعْتَقَ أَمَتَهُ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا فَهُوَ كَالرَّاكِبِ بَدَنَتَهُ فَقَالَ الشَّعْبِيُّ حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَأَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

یو سړی چه د خراسان اوسیدونکے وو د شعبی نه تپوس اوکړو. چه زموږ د ملک خلق وائی چه کوم سړے خپله وینځه آزاده کړی او بیا د هغې سره نکاح اوکړی نو دده مثال داسے دے لکه چه څوک د هدی په خاروی باندے سورلی کوی. شعبی وائی ماته بیان کړے دے ابوبرده بن ابو موسیٰؓ هغوی د خپل پلار ابو موسیٰ اشعریؓ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. دریو سړو ته دوچند ثواب ملاویږی یو خو هغه سړی نه چه هغه د اهل کتابو نه وی (یعنی یهود یا نصرٰی) او ایمان ئے په خپل پیغمبرؑ باندے راوړے وی. او بیا خما زمانه اومومی او په ما باندے هم ایمان راوړی او خما تابعداری کوی

کښ خواه که هغه مړه هم شی عزت او ذلت هر څه ئے قبول دی او د خپل عیسوی دین د خوروڼے دپاره په خپل ځان باندے هر څه برداشت کوی. ډیر لوئے افسوس دے چه مسلمانان دے نه بالکل غافله شوی دی او د مسلمانانو ډیر ملایان او درویش بغیر په آرام سره د روټو خوړلو نه نور د دین څه کار نه کوی. نه سفرے کوی نه د نورو ملکونو د قومونو ژبے ایزده کوی نه ه نورو ژبو کښ د اسلام کتابونو او قرآن ترجمه خوروی. افسوس نصاراؤ د خپل واقفیت په واسطه د قرآن ترجمه په انګریزئ او فرانسیسئ او جرمنی ژبو کښ کړے ده خو د مسلمانانو دا توفیق نشته چه هغه د قرآن او دین د کتابونو ترجمه په نورو ژبو کښ خصوصًا د کافرانو په ژبو کښ اوکړی او د هغې په لکونو په زرګونو نسخے په کافرانو کښ خورے کړی دده دپاره چه هغه د رښتونی دین شریعت نه خبر شی نصراؤ خپل دین داسے خراب کړے دے چه د عقل خاوند که د لږ هم عقل نه کار واخلی نو هغوی ته به دا دین لوبے معلوم شی. د دریو خدایانو یو خدائے او د یو درے داسے لغو خبره ده چه هغه د چا په ذهن کښ نه راځی. بیا دا ویل چه عیسیٰ علیه السلام د خدائے پاک خوئ دے باوجود دده چه عیسیٰ علیه السلام خوړل او څکل کول او پیدا شوے وو او مرګ ئے لرلو دده نه هم زیات د قیاس نه خلاف او د عقل نه لرے دے نو هغه د دعوت په زور سره په کم عقلو او بے وقوفو کښ برابر خوریږی. د اسلام دین خو داسے صفا او نیغ او خالص دے چه په کښ بغیر د یو رښتونی خدائے برحق چه هغه موږ لره او زمکے آسمانونو لره او تولو مخلوقاتو لره پیدا کړی دی د چا بل چا عبادت نشته دے او په دے دین کښ یو خبره د عقل خلاف نشته لکه چه په نورو دینونو کښ موندلے شی بیا یقین دے چه که چرے مسلمانان د نصراؤ په نسبت د خپل خوږ دین په خورولو کښ لسمه حصه هم کوشش اوکړی نو د هغې اثر د نصراؤ د کوشش نه به څه زیات وی او چونکه په دے زمانه کښ د خلقو میلان د عقل په طرف زیات دے. پس په دے کښ څه شک نشته چه هغه به په تولو دینونو کښ اسلام له ترجیح ورکړی او شرک او کفر لره پریږدی د برحق خدائے د توحید قائل شی. کوم چه د تولو نه اعلیٰ رکن د اسلام دے اوس دا دعوت په مختلف طور باندے کیدے شی. چه څه خلق د قرآن او د حدیث ترجمه د کافرانو په ژبو کښ اوکړی څه خلق د اسلام د حقیقت دلائل په مقابله د بل مذهب ډیر په صفا طور سره لیکی. او بیائے د هر قوم په کافرانو کښ خوروی. او څه خلق چه د کافرانو ژبه ایزده کړی او بیا د هغوی ملک ته لاړ شی او د خپل دین خوړول د ژبے په نصیحت او دعوت ښه په فصاحت او بلاغت کښ کوی هکذا

فَآمَنَ بِهِ وَاتَّبَعَهُ وَصَدَّقَهُ فَلَهُ أَجْرَانِ وَعَبْدٌ مَمْلُوكٌ أَدَّى حَقَّ اللهِ تَعَالَى وَحَقَّ سَيِّدِهِ فَلَهُ أَجْرَانِ وَرَجُلٌ كَانَتْ لَهُ أَمَةٌ فَغَذَاهَا فَأَحْسَنَ غِذَاءَهَا ثُمَّ أَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ أَدَبَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ ثُمَّ قَالَ الشَّعْبِيُّ لِلْخُرَاسَانِيِّ خُذْ هَذَا الْحَدِيثَ بِغَيْرِ شَيْءٍ فَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يَرْحَلُ فِيمَا دُونَ هَذَا إِلَى الْمَدِينَةِ

لو ما رښتونے او گڼړي نو هغه لره دوچند ثواب دے. او يو هغه غلام چه هغه د الله حق ادا کړي او د خپل مالک هم د هغه دپاره دوچند ثواب دے. او يو هغه سړے چه د هغه سره يوه وينځه وي بيا په ښه شان په هغے خوړوي او څکوي. روستو د دے نه ئے په ښه شان سره تعليم او تربيت او کړي او بيا هغے لره آزاده کړي او د هغے سره نکاح او کړي نو هغه لره هم دوچند ثواب دے بيا شعبي خراساني ته اووے چه دا حديث واخله بے محنت نه گټي نو يو سړي د دے نه د وړوکي حديث دپاره د مدينے پورے سفر کړے وو.[1]

بَابُ نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ حَاكِمًا بِشَرِيعَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِكْرَامِ اللهِ هَذِهِ الْأُمَّةَ زَادَهَا اللهُ شَرَفًا وَبَيَانِ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ هَذِهِ الْمِلَّةَ لَا تُنْسَخُ وَأَنَّهُ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْهَا ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

باب: د عيسیٰ عليه السلام د نازليدو او د هغه په شريعت محمّدی د چليدو بيان او دا چه دا آخرے اُمّت دے او په دے کښ به يو جماعت ضرور داسے وي چه حق به کلک ولاړ وي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښ زما روح دے. البته نږدے ده چه راکوزيږي به عيسیٰؑ د مريم خوئ په تاسو خلقو کښ او حکم به

[1] دا شعبي په دے واسطه اووے چه د خراساني سره د دے حديث قدر وي او هغه دے لره ياد کړي. سبحان الله وړاندے خلقو د دين په واسطه څنگه بے انتها کوششونه کړي دي. چه د يو يو حديث دا اوريدو دپاره ئے د منزلونو سفرے او تکليفونه تير کړي دي الله د هغوی ته جزائے خير ورکړي د ټولو مسلمانانو د طرفنه څکه چه د هغوی احسان په ټولو مسلمانانو باندے دے. امام نووي وائي د دے حديث نه لوئے فضيلت اووتو د هغه اهل کتابو چه هغه مسلمانان شي او د هغه غلام چه هغه د خدائے او د مالک د دواړو حقوق ادا کړي او د هغه سړي چه هغه خپله وينځه ازاده کړي او بيائے په نکاح واخلي.

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَكَمًا مُقْسِطًا فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضُ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عُيَيْنَةَ إِمَامًا مُقْسِطًا وَحَكَمًا عَدْلًا وَفِي رِوَايَةِ يُونُسَ حَكَمًا عَادِلًا وَلَمْ يَذْكُرْ إِمَامًا مُقْسِطًا وَفِي حَدِيثِ صَالِحٍ حَكَمًا مُقْسِطًا كَمَا قَالَ اللَّيْثُ وَفِي حَدِيثِهِ مِنَ الزِّيَادَةِ وَحَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ

کوی موافق دد ے شریعت لو انصاف به کوی. لو ماته به کړی سولی لره چه هغه نصارا او جوړه کړ ے ده او د هغے عبادت کوی لو اوبه وژنی خنزیر لره. او موقوف به کړی جزیے لره او ډیر به کوی مال لره تر د ے پور ے چه څوک به نه اخلی هغے لره[1].

د زهری نه نور روایتونه هم دغه شان دی د ابن عیینه په روایت کښ دی چه حضرت عیسیٰ به امام وی. انصاف کونکے او حاکم به وی عدل کونکے. او د یونس په روایت کښ دی چه حاکم به وی عدل کونکے لو په هغے کښ دا نشته د ے چه انصاف کونکے امام به وی. لکه چه د لیث په روایت کښ دی. په د ے کښ دومره زیاته ده. چه حضرت عیسیٰ به دومره مال رااوباسی چه یوه سجده د هغه زمانے به د تولے دنیا نه غوره وی بیا ابوهریره وائی چه کۀ چر ے ستاسو زړۀ غواړی نو دا آیت لولئ. څوک داسے نشته د اهل کتابو نه چه

---

[1] نووی وائی حضرت عیسیٰ به ماته کړی سولی لره. دد ے نه دا خبره اوځی چه منکرات او لهو لعب او باطلے آلے لکه باجے او تصویرونه وغیره ماتول پکار دی. او د خنزیر وژل هم دد ے قسم نه دی. او په د ے کښ دلیل د ے د هغه مذهب چه مختار د ے. چه خنزیر لره مونږ کوم ځائے مومو اګر چه په دار الکفر کښ وی لو مونږ قادر یو د هغے په قتل باند ے نو قتلوو به هغه لره او دا قول کم د ے چه ما لره په پریږدی. او دا چه کوم رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه حضرت عیسیٰ به موقوف کړی جزیے لره یعنی دا صحیح معنیٰ ده د حدیث. یعنی په دغه زمانه کښ به کافرانو ته حکم لوشی چه یا مسلمانان شی یا به قتل کړے شی جزیه اخستل به موقوف کړے شی او داسے ویلی دی امام ابوسلیمان خطابی او قاضی عیاض د بعضو علماؤ نه نقل کړے د ے. چه حضرت عیسیٰ به جزیه مقرر کړی په تولو کافرانو باندے او دد ے وجے نه به د مال زیاتے رالشی. خو دا صحیح نۀ د ے. او صحیح معنیٰ دغه ده کومه چه خطابی ویلے ده. او ددۀ طرفته جمهور علماء تلی دی. مګر په د ے صورت کښ دا اعتراض کیږی. چه دا حکم خو خلاف د شریعت محمدی د ے او په حدیث کښ راغلی دی چه حضرت عیسیٰ به د شریعت محمدی په موافق حُکم کوی دد ے جواب دادے چه دا حکم د شریعت محمدی خلاف نۀ د ے. ځکه چه د جزیے اخستو حکم د هغه وخته پور ے د ے. څو وخت چه عیسیٰ راکوز شی او هر کله چه دا حکم په حدیث کښ ښکاره د ے نو دا حکم زمونږ د شریعت محمدی شو نۀ د عیسیٰ. او دا چه نے کوم فرمایلی دی چه ډیر مال به ور کړی نو مطلب دادے چه د عدل او انصاف په وجه سره به برکت ډیر شی. او مال به زیات شی یا به زمکه خپلے خزانے راوباسی لکه چه په دویم حدیث کښ راغلی دی. یا به د خلقو مینه د مال سره نۀ وی. په وجه د نزد ے والی د قیامت دد ے وجے نه به مال ډیر زیات پاتے شی. او الله پاک ښۀ پوهه د ے په اصل حال

بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ الْآيَةَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهِ لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَادِلًا فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيرَ وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ وَلَتُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا وَلَتَذْهَبَنَّ الشَّحْنَاءُ وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ

هغه به ایمان رانهٔ وړی په عیسیٰ باندې د هغهٔ د مرګ نه مخکښ[1]

د ابوهریره نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. قسم په خدائے چه د مریم خوئ به راکوزیږی (د آسمان نه) او هغه به حاکم وی عدل به کوی نو مات به کړی صلیب لره او اُوبه وژنی خنزیر لره. او موقوف به کړی جزیے لره. اوپریږدی به خوان اوښ لره. بیا به څوک محنت نهٔ کوی په دهٔ باندې. او د خلقو د زړونو نه به زنګ او حسد دشمنی او سوزیدل ختم شی. او رابلی به هغه خلقو لره د مال ورکولو دپاره لیکن څوک به ئے نهٔ قبلوی (د دے وجے نه چه حاجت به ئے نهٔ وی او مال به زیات د هر چا سره وی)[2]

---

[1] یعنی د خلقو رغبت به په دغه زمانه د عبادت طرفته زیاته وی په وجه د نږدے والی د قیامت او د مال نه به نفرت شی نو یوه سجده به د هغوی په نزد د دنیا وَمَا فیها نه غوره وی او قاضیؒ وائی د یوے سجدے ثواب د هغه زمانے د تولے دنیا د مال خیرات کولو نه به زیات وی ولے چه د مال به په هغه وخت کښ احتیاج نهٔ وی په سبب د کثرت د مال او د سجدے نه مراد دغه ظاهری معنی یا مونځ مقصود دے. یعنی عیسیٰ هر کله چه راکوزیږی نو د هغوی په زمانه کښ کوم چه اهل کتاب وی هغه به ایمان راوړی په هغهٔ باندے او پخپله غلطی به یقین کوی او پوهیږی به چه هغه د الله بنده دے. او د هغهٔ د وینځے خوے دے ددے نه معلومیږی چه د ابوهریره مذهب دا وو چه په قرآن کښ چه کوم د قَبْلَ مَوْتِهٖ ضمیر دے. هغه د عیسیٰ په طرف واپس کوی او دا قول دے د مفسرینو د یو جماعت او د اکثرو مفسرینو دا قول دے چه هغه ضمیر د اهل کتابو په طرف ګرځوی او معنی د ایت داده. چه څوک د اهل کتابو نه داسے نشته چه هغه د خپل مرګ نه مخکښ په عیسیٰ باندے ایمان رانهٔ وړی. یعنی د ساه وتلو په وخت هغهٔ ته حقه خبره ښکاره چه ما چه کوم عیسیٰ لره د خدائے خوئ ګنړلو دا غلطه ده. خو دغه وخت به ئے ایمان فائده نهٔ ورکوی په دے واسطه چه دغه حالت د نزع او سکرات دے او په دغه وخت کښ د قول او فعل څهٔ اعتبار نشته. او په داسے حالت کښ نهٔ کفر صحیح دے نهٔ اسلام نهٔ وصیت نهٔ بیعه نهٔ عتاق او نهٔ د څهٔ قسم عقد. ولے چه الله تعالی فرمائیلی دی. د هغه خلقو توبه قبوله نهٔ ده چه هغه بدئ کوی او هر کله چه مرګ راشی نو وائی چه اوس مونږ توبه کړله. او دا مذهب زیات ظاهر دے. ولے چه د وړمبی مذهب موافق ایت خاص کیږی د هغه کتابی سره چه هغه د حضرت عیسیٰ په زمانه کښ وی. او د دویم مذهب په موافق د هر یو کتابی دپاره عام کیږی او مؤید دے ددے قرأت قَبْلَ مَوْتِهِمْ او بعضے دا وائی چه د بِهٖ ضمیر زمونږ د پیغبر طرفته ګرځیدلے دے. او د مَوْتِهٖ د کتابی طرفته او معنی د آیت داده چه هر یو کتابی به ایمان راوړی زمونږ په پیغمبر باندے د خپل مرګ نه مخکښ. والله اعلم (نووی)

[2] یعنی څوک به د هغه پرواه نهٔ کوی او نه به ئے څوک خدمت کوی. ددے وجے نه چه د دنیا مال بیحده پروت وی د خلقو به حاجت نهٔ وی او دویمه دا چه قیامت به نږدے وی. خلق به زر زر د خپل اخرت فکر کوی قاضی عیاضؒ او صاحب مطالع وائی وَلَا یُسْعٰی عَلَیْهَا معنے دادی چه د هغوی زکوٰة به نهٔ شی غوښتلے ددے وجے نه چه زکوٰة اخستونکے به څوک نهٔ وی او دا تاویل باطل دے په څو وجوه سره او صواب هم دغه دے کومے معنے چه مونږ بیان کړے. (نووی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْيَمَ فِيكُمْ وَإِمَامُكُمْ مِنْكُمْ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ستاسو به خنګه حال وی. هر کله چه د مریم علیه السلام خوئ راکوزیږی په تاسو کښې. او امامت کوی ستاسو نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْيَمَ فِيكُمْ وَأَمَّكُمْ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ستاسو به څهٔ حال وی هر کله چه د مریم خوئ راکوزیږی په تاسو کښې او امامت کوی ستاسو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ فَأَمَّكُمْ مِنْكُمْ فَقُلْتُ لِابْنِ أَبِي ذِئْبٍ إِنَّ الْأَوْزَاعِيَّ حَدَّثَنَا عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ نَافِعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَإِمَامُكُمْ مِنْكُمْ قَالَ ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ تَدْرِي مَا أَمَّكُمْ مِنْكُمْ قُلْتُ تُخْبِرُنِي قَالَ فَأَمَّكُمْ بِكِتَابِ رَبِّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَسُنَّةِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ستاسو به څهٔ حال وی چه هر کله د مریم خوئ راکوز شی په تاسو کښې بیا امامت به کوی ستاسو نه (ولید بن مسلم وائی) ما ابن ابی ذئب ته اووے. ماته اوزاعی حدیث بیان کړو د زهری نه هغوی د نافع نه هغوی د ابوهریره نه په هغې کښې دا دے. چه امام به ستاسو ستاسو نه وی. ابن ابی ذئب اووے ته پوهیږے چه دد دے مطلب څهٔ دے؟ چه امامت به کوی ستاسو ستاسو نه. ما اووے اوښایه! هغو اووے چه امامت به کوی حضرت عیسیٰ ستاسو ستا و د پیغمبر په سنتو سره[1].

---

[1] یعنی تابع به وی د شریعت محمدیٔ او تابعداری به کوی د قرآن او د حدیث. نو حضرت عیسیٰ علیه السلام اګر چه پیغمبر دے. خو د هغهٔ د پیغمبری زمانه زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ظهور باندے ختم شوے ده. اوس چه هغه دنیا ته راځی نو زمونږ د پیغمبر په اُمت کښې به شریک شی د قرآن او د حدیث موافق عمل به کوی. دد ے نه صفا معلومیږی چه عیسیٰ علیه السلام به پخپله مجتهد مطلق وی. او د قرآن او حدیث موافق به عمل کوی. او د قرآن او حدیث نه به احکام راوباسی او د چا مجتهد تابع به نهٔ وی. او دا خبره د عقل نهٔ لرے ده چه پیغمبر د یو مجتهد مقلد وی. او باطل دے هغه خیال د حنفیو چه عیسیٰ علیه السلام به د امام ابوحنیفه په مذهب باندے چلیږی. بلکه په داسے خیال کښې توهین د عیسیٰ علیه السلام کیږی او کومو حنفیو چه داس خیال کړے دے دهغې علماؤ محققینو رد کړے دے. او پخپله د حنفی مذهب علماؤ دے لره باطل ګرځولے ده. په دے شان دا قول چه امام مهدی علیه السلام به د امام ابوحنیفه رحمه الله مقلد وی یا حضر خضر علیه السلام د ابو حنیفه رحمه الله شاګرد وو. دا ټول خرافات دی چه په دے باندے یو د لیل د کتاب او سنت یا عقل سلیم نه نشته. او تعجب دے په هغه علماؤ سره چه هغو بے پوهے داسے بے فائدے خبرو لره په خپلو کتابونو کښې نقل کړی دی. او جاهل په دے خبرو باندے دهوکه کیږی. د الله جل جلاله نه اُمید دے چه حضرت مهدی علیه السلام او حضرت عیسیٰ علیه السلام دواړه به د قرآن او حدیث تابعدار وی او تابع به وی. او د اهل سنتو امداد کونکے به وی. او د مجتهدینو اختلافات به بالکل او چت کړی. اوکوم متعصب مقلد چه د دوی وینا نهٔ منی هغه به ذلیل او خوار وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ قَالَ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ أَمِيرُهُمْ تَعَالَ صَلِّ لَنَا فَيَقُولُ لَا إِنَّ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ أُمَرَاءُ تَكْرِمَةَ اللهِ هَذِهِ الْأُمَّةَ

د جابر بن عبد الله ؓ نه روایت دے . ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغهٔ فرمائیلی وو. همیشه به یو جماعت زما د امت جنګیږی (د کافرانو او مخالفینو سره) په حق باندے د قیامت دورځے پورے به هغه غالب وی بیا به عیسیٰ بن مریم علیهما السلام راکوزیږی. او د دغه جماعت امام به ورته وائی راشه مونږ لوکره (حضرت عیسیٰ ته به وائی) هغه به وائی نه ستاسو نه د یو په نورو باندے حاکم وی دا هغه بزرګی ده چه الله پاک عنایت کړے ده دے امت ته[1].

بَابُ بَيَانِ الزَّمَنِ الَّذِي لَا يُقْبَلُ فِيهِ الْإِيمَانُ

باب: د هغه زمانے بیان هر کله چه ایمان به مقبول نه وی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَإِذَا طَلَعَتْ مِنْ مَغْرِبِهَا آمَنَ النَّاسُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ فَيَوْمَئِذٍ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی قیامت به نهٔ قائمیږی هر کله چه نمر د قبلے د طرفنه نه راختلے وی بیا چه هر کله نمر د قبلے نه راوخیژی نو په دغه وخت به ټول خلق ایمان راوړی (په خدائے باندے چه دومره لویه نخښه اووینی) لیکن د هغه ورځے ایمان به فائده نهٔ ورکوی هغه بنده لره چه هغه وړاندے ایمان راوړے نه وی یا هغه د ایمان سره نیکی نه وی کړے[2].

خوک چه ژوندی پاتے شو هغه به انشاء الله تعالی زمونږ دے خبرے تصدیق اوکړی. او زمونږ سلام به دے دواړو حضراتو په خدمت کښې اورسوی. او زمونږ منتها ترره او کوشش به د هغوی په دعائے خیر سره په آخرت کښې پوره ثمره اوښائی. او زمونږ پوره بهروسه خو بالکل زمونږ په خداوند باندے ده چه هغه زمونږ مالک دے د ژوند او د مرګ نه پس او مونږ ته د هغه په غلامئ او بندګئ باندے فخر دے. په دنیا او آخرت کښې اے زمونږ صاحب ، مالک خداوند کریم مونږ پخپله غلامئ کښې قبول کړه او زمونږ زړهٔ په خپلو یادو کښې اولګوه او مونږ په خپل عشق او محبت کښې فناه کړے. امین یا رب العالمین

[1]: چه دومره لوئے پیغمبر روح الله به د مسلمانانو د امام اطاعت قبلوی او په هغه پسے به مونځ کوی. سبحان الله حضرت عیسیٰ ؑ به زمونږ د پیغمبر پیروی کوی. زمونږ پیغمبر ﷺ هم یوځل په عبد الرّحمٰن بن عوف پسے مونځ کړے دے. دویم دا چه د دغه زمانے امام به مهدی وی. چه هغه به د رسول الله ﷺ قائم مقام وی. او لوئے فضیلت او بزرګی والا به وی راضی د وی الله د هغوی نه،

[2]. ځکه چه خدائے خو هغه ایمان لره منظوره وی چه هغه په غیبو باندے وی. او هر کله چه نخښے ښکاره شی او قیامت راشی. نو هغه وخت خو به د کافر او مؤمن د ټولو په خدائے پاک باندے یقین راشی. قاضی عیاض وائی دا حدیث په خپل ظاهر باندے محمول دے د اهل حدیثو او فقهاؤ او متکلمینو په نزد باندے مګر باطنیو واطنیه یوه فرقه ده د صوفیو نه چه هغه ټول آیتونه او حدیثونو لره د

ظاهری معنی نه بدله دویمه معنی رااویاسی. او مخالف دی د صحابو او تابعینو او ائمه د دینی طریقے نه او دا فرقه وړوکے بچے د ے نیچری او فلسفی او د دهری حکیمانو، په د ے کښې تاویل کړے د ے انتهیٰ.

د اردو کتاب مترجم وائی چه ما د اهل باطنو په تاویلاتو باند ے د یو ے مود ے پور ے غور اوکړو او د هغوعللو او اسبابو لره م اولیدل نو اکثر د تاویلاتو کونکو دپاره فائده مند ثابت نۀ شو. بلکه کوم قباحتونه چه هغوی د خپل بد فهم نه په ظاهری معنی کښې خیال کړی وو. د هغے نه هغه څۀ زیات مفاسد په تاویلی معنی کښې پیدا شول باوجود دد ے نه هغه خلق په خپلو تاویلاتو باند ے اړم دی لو دا د شیطان یوه وسوسه ده. خدائے دِ مونږ د هغے نه په پناه کښې اولری. په د ے قسم ئے کړے د ے تاویل د استواء سره د استیلا. او تاویل نزول سره د نزولِ رحمت او تاویل د سمع او بصر وغیره د صفات الله او بعضے داسے تاویلات م اولیدل. چه په هغے کښې علت تاویل موافق د عقید ے د صاحب تاویل معلوم نۀ وی. اوس دد ے تاویل کول د دوه وجهو نه خالی نۀ دی. یا خو هغه په حقیقت کښې په د ے عقیده باند ے نۀ دی کومه چه هغه ظاهره وی. بلکه هغه عقیده د خپل خان د نۀ ذلیله کولو او رسوا کولو دپاره. یا دد ے افت نه د بچ کیدو دپاره هغوی صرف د خپلے ژبے نه د خپل خان طرفته منسوب کړه. یا دیده او دانسته په حماقت او سفاهت کښې گهیر دی. چه د تاویل د نۀ ضروری کیدو په صورت کښې هم تاویلات کوی.

په د ے حدیث کښې چه کوم دا راغلی دی چه قیامت به نۀ قائمیږی دهغے پور ے چه نمر د قبلے د طرفنه راختلے نۀ وی. نو اهل سنتو د ے لره په خپله ظاهری معنی باند ے محمول کړے د ے. ولے چه د نمر راختل د قبلے د طرفنه نۀ محال دی نۀ خلاف عقل نۀ دا خداوند کریم د قدرت کامله نه څۀ لر ے دی خکه چه هغه زمکے لره د مغرب نه د مشرق په طرف متحرکه ایخود ے ده. هغه ددنیا د ختمولو په وخت کۀ چر ے دی لره د مشرق نه د مغرب طرفته کړی نو څۀ مشکله ده. اوس باطنیو چه کوم دد ے حدیث تاویل کړے د ے نو د دوو حالو نه خالی نۀ د ے. یا دا چه هغه باطنیه دی چه په حقیقت کښې دهری او طبعی او نیچری او د خداوند کریم نه انکار کونکی دی. په د ے صورت کښې خو البته د تاویل ضرورت د ے. خو چا ته چه معاذ الله دد ے قسم بد اعتقاد وی چه د خداوند کریم یا د هغۀ د صفت کامله لکه علم او قدرت وغیره نه منکر وی نو دد ے ضرورت څۀ د ے چه ورمبے قرآن او حدیث لره تسلیم کړی او روسته دد ے نه ئے په تاویل ورپسے شی ددوی په نزد خو دین او ملت څۀ شے نۀ د ے. او دا خو جوړه معاذ الله کټ کړے دهٔ د خدایئ او پیغمبرئ بیا د داسے خلقو نه چه هر کله په آیت یا حدیث کښې تاویلات مسموع کیږی. نو نور زیات د هغوی د کم عقلتیا او حماقت ثبوت کیږی. ددغے قبیلے نه د ے هغه چه بعضے باطنیه اهلِ الحادو زمونږ په زمانه کښې په معجزاتو او وحی او حشر نشر وغیره کښې تاویل کړے د ے. او د فرښتو او شیطانانو او د جنّاتو نه ئے انکار کړے د ے. یا دا هغه باطنیه دی چه د خداوند کریم او د هغۀ د صفاتِ کامله او اصول دین قائل او اقرار کونکی دی. بیا د دغه خلقو ته څۀ ضرورت د ے چه په د ے حدیث کښې تاویل کوی. او دا امر یعنی د نمر د قبلے نه راختل داسے دی لکه چه نمر ته د نمر خاتۀ نه په راختو کښې څۀ قسم استبعاد نشته دغه شان د قبلے د طرفه په راختو کښې هم څۀ استبعاد نشته او مشرق او مغرب او شمال او جنوب دا څلور واړه طرفونه اعتباری دی. او د هر یو ملک او قطعه د زمکے په لحاظ سره په هغے کښې تغیر او تبدل کیږی. عرض په تِسعین کښې نۀ مشرق د ے نۀ مغرب بلکه نمر شپږ میاشتے افق ته نږد ے دد ے دپاسه وی. او د شپږو میاشتو پور ے دد ے دلاند ے وی. دد ے نه علاوه راختل او ډوبیدل د نمر کۀ چر ے موافق د قاعدو د قدیمو فلسفو اوگوری نو د زمکے یو لږ شان حرکت د غیر معمولی نه چه د فنائے عالَم په وخت د قیاس نه لر ے نۀ دی. نقطه مشرق مغرب او نقطه مغرب مشرق کیدے شی. او کۀ چر ے موافق د فلسفه جدیدئے اوگوری نو دد ے زمکے حرکت ذاتی کوم چه په خپل محور باند ے د ے او حرکت مداری چه د نمر نه چاپیره د ے. دواړه معلوم دی. جذب او کشش آفتاب او ثقل ذاتی په زمکه کښې. بیا چه هر کله نظم عالَم ته نږد ے دد ے نظام شمسی چه ټولو حالتونو او نسبتونو کښې تغیر پیدا شی. نو بدلیدل د نقطه مشرق او مغرب

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ إِذَا خَرَجْنَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَالدَّجَّالُ وَدَابَّةُ الْأَرْضِ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمًا أَتَدْرُونَ أَيْنَ تَذْهَبُ هَذِهِ الشَّمْسُ قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ إِنَّ هَذِهِ تَجْرِي حَتَّى تَنْتَهِيَ إِلَى مُسْتَقَرِّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَخِرُّ سَاجِدَةً فَلَا تَزَالُ كَذَلِكَ حَتَّى يُقَالَ لَهَا ارْتَفِعِي ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ فَتَرْجِعُ فَتُصْبِحُ طَالِعَةً مِنْ مَطْلِعِهَا ثُمَّ تَجْرِي حَتَّى تَنْتَهِيَ إِلَى مُسْتَقَرِّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَخِرُّ سَاجِدَةً وَلَا تَزَالُ كَذَلِكَ حَتَّى يُقَالَ لَهَا ارْتَفِعِي ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ فَتَرْجِعُ فَتُصْبِحُ طَالِعَةً مِنْ مَطْلِعِهَا ثُمَّ تَجْرِي لَا يَسْتَنْكِرُ النَّاسَ مِنْهَا شَيْئًا حَتَّى تَنْتَهِيَ إِلَى مُسْتَقَرِّهَا ذَاكَ تَحْتَ الْعَرْشِ فَيُقَالُ لَهَا ارْتَفِعِي أَصْبِحِي طَالِعَةً مِنْ مَغْرِبِكِ فَتُصْبِحُ طَالِعَةً مِنْ مَغْرِبِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د ابوهريره ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلى دى درے كارونه چه هر كله ظاهر شى نو هغه وخت به چا لره د ايمان د راوړو نه فائده نۀ وى هغه چا ته چه هغوى مخكښ ايمان راوړے نۀ وى. يا نيک كارنے نۀ وى كړے. يو خو راختل د نمر د هغه ځائے نه كوم ځائے چه پريوځى. دويم د دجّال راوتل دريم د دابّة الاَرض راوتل[1].

د ابوذر ؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ خپلو صحابو ؓ ته يوه ورځ اوفرمائيل تاو ته پته ده چه د نمر چرته ځى؟ هغوى اووے چه الله ؓ او د هغۀ رسول ﷺ ښۀ پوهيږى هغوى آوفرمايل دا ځى تردے پورے چه د خپلو اودريدو په ځائے باندے د عرش لاندے راشى او هلته په سجده باندے پريوځى (د دغه سجدے په مفهوم الله تعالىٰ پوهه دے) بيا په دغه حال كښ وى تردے پورے چه حكم ورته اوشى پورته شه او واپس ځه او د كوم ځائے نه چه راغلے وى هلته راشى او د خپلو راختو د ځائے نه راّاوخيژى بيا ځى ځى تردے پورے چه د خپلو اودريدو په ځائے د عرش دلاندے راشى لو سجده كوى بيا په دغه حال كښ وى تردے پورے چه دۀ ته اوويلے شى پورته شه او واپس لاړ شه هغه راّاوخيژى د خپلو راختو د ځائے نه بيا ځى يو ځل په دے شان سره چليږى او خلقو ته څۀ فرق د دۀ په چال كښ معلوم نۀ وى تردے پورے چه هغه به د خپلو اودريدو ځائے ته راشى د عرش د لاندے په دغه وخت به دۀ ته اوويلے شى. پورته شه او راّاوخيژه د مغرب د طرفنه په كوم ځائے چه ته پريوځے. هغه به راّاوخيژى د مغرب د طرفنه بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل. تاسو څۀ خبريئ چه دا به كله وى (يعنى نمر د

څۀ لرے دى. دويمه دا چه كۀ چرے نظام شمسى په خپل حالت باندے باقى پاتے وى بيا هم حركت ذاتى د زمكے د دوارو طرفو نه جائز الوقوع دے. لكه چه يوے گولے لره د اخواه نه ديخواه او چور لوے. يا د آخواه نه دے خواه هغه په هر حالت كښ په خپل محور باندے چُور لوى او دا څۀ د عقل نه لرے نۀ ده.

[1] يعنى د زمكے نه به يو ښناور پيدا شى چه هغه به په كافرانو او مومنانو كښ فرق كوى.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَدْرُونَ مَتَى ذَاكُمْ ذَاكَ حِينَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْكَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا

مغرب د طرفه راختل دا به هغه وخت وی هر کله چه د چا ایمان راوړل به فائده نۀ ورکوی چا چه دوراندے نه ایمان راوړے نۀ وی یائے په خپل ایمان کښ نیک کارونه نۀ وی کړی[1].

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فَلَمَّا غَابَتِ الشَّمْسُ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ هَلْ تَدْرِي أَيْنَ تَذْهَبُ هٰذِهِ قَالَ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا تَذْهَبُ فَتَسْتَأْذِنُ فِي السُّجُودِ فَيُؤْذَنُ لَهَا وَكَأَنَّهَا قَدْ قِيلَ لَهَا ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا قَالَ ثُمَّ قَرَأَ فِي قِرَاءَةِ عَبْدِ اللهِ وَذٰلِكَ مُسْتَقَرٌّ لَهَا

د ابوذر‌ؓ نه روایت دے زۀ جماعت ته لاړم او رسول الله ﷺ ناست وو. هر کله چه نمر پریوتۀ نو هغوی‌ؐ اوفرمایل اے ابوذر! تاته پته ده چه نمر چرته ځی. ما اووے الله‌ؐ او د هغۀ رسول ﷺ ښۀ پوهیږی. هغوی‌ؐ اوفرمایل هغه ځی او اجازت غواړی د سجدے. بیا دۀ ته اجازت ملاؤ شی. یو خل به دۀ ته اوویلے شی واپس شه خه دکوم ځائے نه چه راغلے ئے. نو هغه به رااوخیژی د مغرب د طرفه. بیائے د عبدالله د قراءت مطابق دا اولوستو. وَذٰلِكَ مُسْتَقَرٌّ لَهَا یعنی هغه مقام د اودریدو د نمر دے.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا قَالَ مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ

د ابوذر‌ؓ نه روایت دے. ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو دے آیت لره نمر روان وی د خپلو او دریدو ځائے ته د تلو دپاره. حضرت ﷺ اوفرمائیل د دۀ د اودریدو ځائے د عرش دلاندے دے[2].

---

[1] د ظاهر حدیث نه د زړو فلسفیانو د خیال تائید کیږی. چه زمکه ساکنه ده. او نمر حرکت کوی. مګر په حقیقت کښ داسے نۀ ده. ځکه چه مراد دلته د نمر د تلو نه روازنه راختل او پریوتل نۀ دی کوم چه د زمکے د حرکت نه پیدا کیږی. بلکه مقصود د نمر هغه حرکت دے چه هغه دۀ په منازلو کښ دے. لکه چه د کَلبی نه منقول دے. او قتاده اومقاتل ویلی دی. چه نمر ځی راځی د یو میعاد مقرره پورے واحدی وائی بیا به دۀ اودریدل هغه وخت شی هر کله چه دنیا ختم شی. خو په دے صورت کښ د حدیث مطلب ښۀ په ذهن کښ نۀ کینی. ولے چه د حدیث نه هره ورځ د عرش لاندے تلل او سجده کول ثابتیږی. نووی‌ؒ وائی یو جماعت د مفسرینو د ظاهر حدیث په طرف تلے دے. واحدی وائی په دے صورت کښ یوه ورځ هر کله چه نمر پریوځی نو د عرش لاندے اودریږی. تر دے پورې چه هغه به راخیژی د مغرب نه مګر په دے کښ دا اشکال دے. چه د نمر ډوبیدل خو هر ساعت او هر لحظه جاری دی. ځکه چه زمکه په شکل د کُرے ده. او ددے د اطرافو او اړخونود اوسیدونکو په لحاظ سره هر یو اُفق مختلف دے. بیا ډوبیږی په یو قوم باندے اوراخیږی په بل قوم باندے او یوځائے ډوبیږی او بل ځائے نه. او کۀ چرے د افق نه حقیقی مراد وی. چه د هغے په وجه سره د زمکے برابر دوه حصے کیږی یو فوقانی او یو تحتانی نو دا اشکال به رفع کړے شی. والله أعلمُ بِمُرَادِ رسُولِ الله ﷺ

[2] دا د نمر تلل په یو فضا کښ چه هغه بے حده فراخه ده. او چه د هغے په مقدار د خدائے پاک نه سوا څوک پوهه نۀ دی. د فلسفهٔ جدید موافق دے هغه دا ویلی دی. چه نمر کوم چه زمونږ د نظام مرکز دے. سره دخپلو سیارو یو حرکت به تدریجی کوی د یوے نقطے په

بَاب بَدْءِ الْوَحْيِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةَ فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ فَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ يَتَحَنَّثُ فِيهِ وَهُوَ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ أُوْلَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا حَتَّى فَجِئَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ قَالَ مَا أَنَا بِقَارِئٍ قَالَ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ قَالَ قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ قَالَ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ

باب: د هغې خبرې بیان چه په رسول الله ﷺ باندې وحي (یعنې د الله پیغام) نازلیدل څنګه شروع شو

د اُمّ المؤمنین حضرت عائشې رضي الله عنها نه روایت دې. هغوی وائي د ټولو نه ورمبی چه کومه وحي په رسول الله ﷺ باندې شروع شوه هغه دا وه چه د هغه خوب به رښتیا کیدو. هغه چه به څه خوب لیدو هغه د سحر د رڼا پشان ښکاره کیدو. بیا هغه ته د خاتمه والي شوق پیدا شو، هغه به په غار حرا کښې یواځې تشریف فرما وو. هلته به ئې عبادت کوو د څو شپو پورې. او کور ته به نه راتلو. او خپل خوراک به ئې د ځان سره راوړلو. بیا به د حضرت اُمّ المؤمنین حضرت خدیجې رضي الله عنها خوا ته راتلو. او هغې به نور د خوراک سامان دومره تیاره وو او ورکوو به ئې. تر دې پورې چه ناڅاپه په هغوی باندې وحي نازله شوه او د هغوی د وحي توقع نه وه هغوی د دغه حرا په غار کښې وو چه فرښته هغه له راغله او ورته ئې اوویل اُوله هغه اووې زه لوستلو والا نه یم حضور ﷺ فرمائي هغې فرښتې زه اُونیوم او زور ئې په سینه کښې راکړو. دومره چه زه ستړې شوم بیا هغه سترې شو. بیائې زه پریخودم او راته ئې اووې اُولوله ما اووې زه لوستلو والا نه یم هغه بیا زه اُونیوم او زور ئې (په سینه کښې) راکړو. او بیائې پریخودم او راته ئې اووې. اُولوله ما اووې چه زه لوستلو والا نه یم هغه بیا په دریم ځل زه اُونیوم او د سینې سره جوښت کړم تر دې پورې چه ستړې شوم بیائې پریخودم او راته ئې اووې. اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ آخره پورې. یعنې اُولوله د نوم د هغه مالک سره چه پیدا کړې ئې. او پیدا کړې ئې دې بنده د قطرې د وینې نه اُولوله او ستا

طرف چه د هغې لرې والی له بغیر د الله تعالی نه نور څوک نه پیژني. او هر کله چه دا حرکت ختم شي نو ضرور به یو انقلاب عظیم به دې نظام شمسي کښې واقع شي. او شاید چه دغه انقلاب د شرع په ژبه کښې د قیامت نه تعبیر شوې وي. والله اعلم بالصواب

مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْجُفُ بَوَادِرُهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ فَقَالَ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ ثُمَّ قَالَ لِخَدِيجَةَ أَيْ خَدِيجَةُ مَا لِي وَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ قَالَ لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي قَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ كَلَّا أَبْشِرْ فَوَاللهِ لَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا وَاللهِ إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَصْدُقُ الْحَدِيثَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى وَهُوَ ابْنُ عَمِّ خَدِيجَةَ أَخِي أَبِيهَا وَكَانَ امْرَأً تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعَرَبِيَّ وَيَكْتُبُ مِنَ الْإِنْجِيلِ بِالْعَرَبِيَّةِ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَكْتُبَ وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ أَيْ عَمِّ اسْمَعْ مِنَ ابْنِ أَخِيكَ قَالَ وَرَقَةُ بْنُ نَوْفَلٍ يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

مالک لوئې عزت والا دے. چه هغه خودنه اوکړه په قلم سره او پوهه ئې کړو انسان په هغه څۀ چه پرې پوهه نۀ وو. ددے په اوریدو سره رسول الله ﷺ کورته راغے او د هغوی د مټ او د څټ په مینځ کښې غوښه چه وه ریپدله (د یرے نه دغه رنګے دا د وحی ورمبے خل وو او هغۀ ته عادت نۀ وو په دے وجه پرې هیبت راغے) تردے چه حضرت خدیجې رض ته راالورسیدو. او هغوی اوفرمائیل په ما کمبل خور کړه په ما کمبل خور کړه. هغے پرې کمبل خور کړو تر دے پورے چه یره ئې ختمه شوه دغه وخت ئې خپلے بی بی حضرت خدیجې رض ته اوفرمایل اے خدیجې رض ما ته څۀ اوشو او ټول حال ئې ورته بیان کړو. او لوئې ویل چه ماته د خپل ځان یره ده. خدیجې رض اووے هرګز نه ته خوشحاله شه قسم په خدائے چه الله پاک به تا چرته رسوا نۀ کړی یا به دِ چرته خفه نۀ کړی په الله رض قسم چه ته خپلولئ جوړوے. رښتیا وائے. بوجه اوچتوے. (یعنی د عیال او ملشمانو، او یتیمانانو او مسکینانو ملګرتیا کوے او د هغوی بار اوچتوے) او د غریبانانو دپاره ګټه کوے. او د میلمه خاطر داری کوی. او په رښتونی آفتونو کښې (لکه څوک قرضدارے شو یا مفلس شو یا نوره څلتباهی پرراغله د خلقو مدد کوے. بیا خدیجې هغۀ لره د ورقه بن نوفل خواله بوتلو. هغه خدیجې رض د ترۀ خوئې وو ولے چه ورقه د نوفل خوئ وو او نوفل د اسد خوی وو. او خدیجه رض د خویلد لور وه او خویلد د اسد خوی وو نو د ورقه او خدیجې رض پلاران روره وو او د جاهلیت په زمانه کښې ورقه بن نوفل نصرانی شوے وو. او په عربئ لیکلو پوهیدو. نو انجیل به ئې په عربئ کښې لیکلو څومرہ چه الله ته منظور وو. او ډیر زیات بوډا شوے وو د بوډا والی په وجه ئې نظر ختم شوے وو. خدیجې رض هغۀ ته اووے اے ترۀ (هغه ئې د ترۀ خوئ وو خو د

وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَآهُ فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي أُنْزِلَ عَلَى مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا يَا لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا حِينَ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ قَالَ وَرَقَةُ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا

بزرګئ دپاره ئے ورته تړۀ اووے او په يو روايت کښې د تړۀ خوئ د ے يعنې خپل ورارۀ خبره واوره. ورقه اووے اے خما واورۀ تا څۀ ليدلی دی رسول الله ﷺ چه کوم حالت ليدلے وو هغه ئے ټول بيان کړو ورقه اووے دا خو عزتمند د ے. چه په حضرت موسیٰ باند ے نازل شوے وو کاش چه زۀ په دغه زمانه کښې خوان و ے. کاش چه زۀ په دغه زمانه کښې ژوند ے و ے. د هغه وخته پور ے هر کله چه ستاسو قوم تلوړه اوباسی. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ولے هغه به ما لره أوباسی. ورقه اووے آو. هر کله چه يو سړی په دنيا کښې هغه څۀ راوړی کوم چه تا راوړی دی يعنې شريعت او دين نو خلق د هغوی دشمنان شوی دی او که چرے ما هغې ورځے لره موندلے نو په ښۀ شان به مے ستا مدد کړے وو[1].

---

[1] يعنی د هغې تعبير به رښتيا وو. صفا او پراخه پراخه د څۀ قسم شبه به ور په کښې نۀ وه. علماؤ ويلی دی د نبوت نه مخکښې د شپږ مياشتو پور ے دا حالت وو. د ے نه پس علانيه حضرت جبرائيل هغۀ ته تشريف راوړو. او راز په د ے کښې دا وو چه که چرے ناګهانه ورمبی نه حضرت جبريل د هغۀ خواله راغلے و ے. نو کيد ے شی چه هغه يريدلے و ے او د بشريت په وجه سره ناځاپه د نبوت بار ئے اوچت کړے نۀ و ے. دا حديث د صحابو رضی الله عنهم د مراسيلو نه د ے. ولے چه د حضرت عائشے عُمر دومره نۀ وو. چه هغوی پخپله دا قصه ليدلی وی. بلکه ضرور به ئے پخپله د رسول الله ﷺ نه يا د چا صحابی نه اوريدلی وی. او د صحابی مرسل روايت به اتفاق د علماؤ حجت د ے. او په د ے کښې چا خلاف نۀ د ے کړے. سوا د ابو اسحاق اسفرائينی نه. حضرت ﷺ ته د خانلوالی شوق راغے يعنې د خلوت اوعزلت. او دا هغه امر د ے چه مدار د انسانی ترقی او وظيفه ده د هر ولی او نبی او صالح او حکيم او فلسفی. يو سړے په دنيا کښې د اعلی درجے نه د ے تير شوے چه هغه خلوت او عزلت اختيار کړے نۀ وی. او ديوے مود ے پوری يواځے أوسيدلے او فکر او مراقبه ئے کړے نۀ وی. او وجه دد ے داده چه په خانوالی کښې فکر ښۀ وی. ولے چه زړۀ خالی وی د مشاغلو نه. نو دۀ ته موقع ملاؤ شی. د يو مطلب په طرف د ښۀ متوجه کيدو او د شروع کونکی لره د حالت د استغراق د پيدا کولو دپاره اول خانوالے ضرور د ے بيا هر کله چه دا قوت حاصل شی. او دۀ ته ملکه راشی. نو د تنهايئ ضرورت پاتے نۀ شی. هغه بيا په خلقو کښې ناست هم د يو مطلب په طرف باند ے خپل زړۀ په ښۀ شان له لګولے شی. خکه د نبوت نه پس زمونږ پيغمبر ﷺ لره د خانوالی ضرورت نۀ وو حرئ يا حراء. بکسر هائے حطي يو غر د ے د مکے نه په در ے ميله فاصله باند ے. کوم سړے چه د مکے نه منی ته خی نو په ګس لاس باند ے راځی اوس هلته يو ګنبد جوړ شوے د ے. او هغے غر ته جبل نور ويلے کيږی. يعنې ښۀ ئے کلک او نيوو او په سينه کښې ئے زور ورکړو او ظاهره داده چه حضرت ستړے شوے وی. ولے چه فرښتو لره خداوند تعالی ډير طاقت ورکړے د ے. او هغه ستړی کيږی نه علماؤ اختلاف کړے د ے. چه دا فرښته څوک وه. اکثر دا وائي چه حضرت جبرائيل وو. ولے چه دوحی کار د هغۀ په حواله د ے. او بعضو

ویلی دی چه اسرافیل وو. او د اچه کوم حضرت ﷺ اوفرمایل چه زهٔ لوستلو والانهٔ یم دد ے نه غرض داد ے چه ما ځهٔ کتاب نهٔ د ے لوستے یا زهٔ په ښهٔ شان سره لوستلے نهٔ شم ولے چه اُمی کیدل د بل چا لوستونکی نه د لوستلو مانع نهٔ د ے. او بعضو ویلی دی چه دغه فرښتے یوه صحیفه د حریر د هغهٔ په لاس کښی ورکړے وه. هر کله چه هغه دا اوفرمائیل دد ے زور ورکولو نه دا مقصود وو چه نورِ ملَکی د پیغمبر په ټول جسم کښی خور شی او د هغهٔ زړهٔ مبارک ښهٔ متوجه شی. دد ے وجے نه ئے بار بار دا امر اوکړو دد ے حدیث نه صفا معلومه شوه چه د ټولو نه مخکښی چه کوم سورة د قران نازل شوے د ے هغه دا سورت د ے. او دا صحیح د ے. او په د ے باند ے د جمهور د سلفو او خلفو اتفاق د ے. او بعضو ویلی دی چه د ټولو نه مخکښی سورة مُدثّر نازل شوے د ے. خو هغه قول صحیح نهٔ د ے او بعضو دد ے حدیث نه دا دلیل اخستے د ے. چه بسم الله د سورة جز نهٔ د ے. چونکه بسم الله لره ئے ذکر کړے نهٔ دهٔ. د هغے جواب داد ے چه شاید بسم الله ورستو نازله شوی وی. لکه څنګه چه باقی سورتونه ورستو نازل شوی دی (نووی) قاضی عیاض وائی دا فرمان د هغوی دد ے وجے نه نهٔ وو چه هغهٔ ته د الله په پیغام کښی شک وو. بلکه هغه اویریدو چه کید ے شی دومره لوئے بار به خمانه اوچت نهٔ کړے شی او صاه به م اوخی ولے چه د وحی په سختئ سره ډیر مشقت وی. یا دا خیال د هغه وخته پور ے وی. د کومے پوی چه په خوب کښی دنبوت بشارتونه کیدل او د فرشتے آواز هغه اوریدلے وو. خو ملاقات ئے ورسره نهٔ وو شوے نو هغهٔ ته یره شوه د شیطان خو هر کله چه د فرشتے سره ملاقات اوشو. نو په دغه وخت خو په ځهٔ شان له شک نهٔ شو پاتے کید ے او نهٔ د شیطان اوډ غلبے یره پاتے کید ے شوه. نووی ویلی دی دویم تاویل ضعیف د ے. ځکه چه د حدیث نه صفا معلومیږی چه حضرت ﷺ دا د فرشتے د ملاقات نه پس اوفرمایل زښتونے افتونه اونے ویل ځکه چه کوم آفتونه دناحقے په وجه سره راشی. لکه څوک د فضول خرچئ نه غریب شی یا ظلم اوکړی او په بلا کښی گرفتار شی نو د هغهٔ مدد کول ضروری نهٔ دی. سبحان الله ! حضرت خدیجهؓ خو ددوی داسے بی بی وه. چه هغے خپل خاوند لره د مصیبت په وخت کښی تسلی او تشفی ورکوی او په هره معامله کښی نیکه صلاح ورکوی. د حضرت خدیجےؓ د عقلمندئ او هوښیارتیا او لیاقت او اسعداد د ثبوت دپاره صرف دغه یو حدیث پوره د ے. مطلب د هغے د گفتگو داد ے. چه د هغهٔ اخلاق او عادات او خصلتونه خو زیات ښکلی دی چه د هغے په وجه سره خدائے هم د هغهٔ نه خوشحاله د ے. او د خدائے مخلوق تر نه هم راضی د ے. بیا په هغه باند ے آفت راتلل د عقل نه خلاف دی. ظاهره دهٔ چه زمونږ په شریعت کښی او هم په ورومبو شریعتونو کښی هر کله چه غور او سوچ او کړ ے نو معلومیږی چه گناهونه په دوه قسمه دی. یو قسم خو هغه دی چه هغه د مخلوق سره تعلق نهٔ لری او صرف د خدائے تعالی سره تعلق لری. لکه شرک کول د کفر اعتقاد ساتل. دویم قسم هغه دی چه هغه د مخلوق سره تعلق لری. چه د هغے په وجه سره د خدائے تعالی مخلوق ته تکلیف وی رنځ رسوی. تقریبًا اکثر گناه بلکه ټول گناهونه دد ے قسم دی. لکه زنا ، غلا ، ظلم ، سودخوری ، غیبت ، حسد ، نفاق ، بخیلی وغیره. بیا چه کوم سړ ے د دواړه قسمه گناهونو نه پرهیز کوی. او د هغے په بدله کښی نیکئ کوی چه په هغے سره خدائے پاك خوشحالیږی. او د خدائے مخلوق تر ے هم خوشحاله وی. هغه گور ے کهٔ په مصیبت کښی اونخلی هغهٔ ته خو ورځ په ورځ خوشحالئ سوا کیږی او هغه همیشه د خپلو عملونو په اثر سره او د هغے په تصورُ سره مست او په جامو کښی نهٔ ځائیږی. نو په حقیقت کښی هر یو گناه یو غم د ے. چه د انسان ژوند خرابوی او عیش لره بے خونده کوی. په د ے واسطه ټولو شریعتونو په اتفاق د گناه نه منع فرمایلے دهٔ. مثلاً کوم سړ ے چه بخیلی کوی. او د خپلو بچو او خپلوانو او دوستانو حق په ښهٔ شان نهٔ ادا کوی نو ټول نه ټول ددهٔ دشمنان جوړ شی او خومره چه تر نه کیږی ددهٔ ځان او مال ته نقصان رسوی کوم سړ ے چه حسد کوی هغه پخپل لاس سره خپل ځان ته نقصان رسوی. څوک چه ظلم اوکړی نو خلق د هغهٔ دشمنان شی د هغے بدله تر نه اخلی په د ے شان د ټولو گناهونو حال د ے. چه انجام د هغے رنځ او غم د ے. کوم سړ ے چه گناه لره یو خوند اوگڼړی او کوی ئے هغه انجام لیدونکے او باریک بین نهٔ د ے کهٔ چرے هغه ښهٔ فکر اوکړی نو هغهٔ ته به دا خبره معلومه شی چه دا د لږ ساعت مزه د هغهٔ بے انتها تکلیف په

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ يُوْنُسَ غَيْرَ

د اُمّ المؤمنین حضرت عائشے نه په دویم روایت کښې هم دغه شان دی په دے کښې دومره فرق دے چه حضرت عائشه وائی قسم دے په الله پاک چه الله به تا چرته خفه نه کړی (او په ورانډے روایت

مخکښې چه هغه وړانډے راتلونکے دے خو حقیقت نه لري د زنا وخت چه هغه بوه یا نیمه لحظه خوند وی د هغے څه بساط دے. معاذ الله د هغه آفتونو په مخکښې چه هغه زناکونکی ته د مخکښې تلو سره راتلونکی دی. یو شریف سړے ددغه زناکار کورته په پیخودو باندے خوشحاله نه وی. د هغه گاونډی هغه لره په گاونډ کښې اوسیدل نه خوښوی. د چا سره چه ئے زنا کړے وی د هغے ښځے کا چرے خاوند وی هغه دده د وینے تږے جوړیږی. او هر کله چه موقعه مومی نو دا لره قتلوی. او د کومے چه خاوند نه وی نو د هغے نور عزیزان او خپلوان او رشته داران ئے دشمنان شی. او هر وخت دده د وژلو په فکر کښې وی. او کله چرے فرض کړه کله هغه ښځه زناکاره وی او د هغے خپلوان او رشته داران نه وی یا وی خو پر بد نه گنړی بیا هم دا نقصان دے چه په دغه سړی کښې د زنا عادت ر... ی. بیا د هرے یوے ښځے سره د دے فعل کولو باندے تیاریږی. او نقصان مومی. دویم د هغه زناکار بی بی او د هغے خپلوان او رشته داران ټول د هغه دشمنان شی. او اکثر داسے بد کردار خاوند د خپلے بی بی دلاسه ساه ورکوی. او کله چرے دا هم نه وی. نو د زناکارو ښځو سره د بدکار کولو په وجه بنده ته قسم قسم بیماری لکه اتشک، سوزاک، جُذام وغیره خبیثه مرضونه لاحق کیږی. چه د هغے اثر د څو پشتو پورے په اولاد کښې هم روان وی او چا ته چه دا بیماری راشی. نو د هغه د ژوند نه مرگ غوره معلومیږی. معاذ الله د یو آن د مزے دپاره چه حلال طور باندے هم ممکنه ده د ټول عمر دپاره داسے سخت تکلیف اوچتول د عقلمند سړی کار نه دے. اوس دا دے نه د څوک دا نه گنړی چه د گناهونو نه د بچ کیدلو فائده صرف په دنیا کښې ده. یعنی د دنیا په ژوند کښې ده. نه بلکه د آخرت فائدے د دے نه سوا دی. او کوم بیان چه مونږه پورته اوکړو د دے وجے نه دا غرض دے. چه بعضے خلق چه د هغوی پوره پوهه نه وی هغه خیال کوی چه د گناهونو نه بچ کیدل په دنیا کښې څه فائده مند نه دی بلکه په دے کښې صرف د آخرت فائده ده. حالانکه دا خیال د نری حماقت او سفاهت خیال دے. په شریعت او مذهب باندے چلیدل او د بدو خبرو نه بچ کیدل، او نیکو کارونو لره کول دُنیا او آخرت دواړو لره صحیح کوی. او لکه څنگه چه په مذهب او په شریعت باندی د چلیدو سره انسان د آخرت د عذابونو نه بچ کیږی. دغه شان د دنیا د آفتونو او غمونو نه هم محفوظ کیږی. او کله څوک دا اووائی چه په دنیا کښې په ښو ښو سړو باندے هم لوئے لوئے مصیبتونه او تکلیفونه راغلی دی. او ډیرو بدکارانو ټول عمر په آرام تیر کړے دے. نو د دے جواب دا دے چه دا آرام او مصیبت د ظاهر لیدونکو په نظر کښې دے. په حقیقت کښې بد کارانو ته څه آرام نشته او نیکو کارو ته څه رنځ او غم نشته. په نیک سړی باندے څومره هم آفت چه راشی خو د هغه زړه د خپلے بے قصورئ او پاکئ په تصوُّر کښې خوشحاله وی. او انجام د دغے آفت راحت دے. او د بدکار زړه هر وخت په بے آرامئ کښې دے. کله هر څومره د عیش او عشرت سامان دده سره تیار وی خو هر کله چه ئے زړه ته اطمینان او سکون نشته د گناهونو د فکر او د مواخذے یره ورته لگیدلی وی نو دا ټول سامان هیڅ دے. هٰذَا مَا اَلْهَمَنِيْ رَبِّيْ عَزَّوَجَلَّ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ. په صحیح بخاری کښې دی چه په عبرانی لیکلو پوهیدو. او انجیل ئے په عبرانئ کښې لیکلو. نووی وائی دواړه صحیح دی. او حاصل دا دے چه هغه دا دے هغه د نصرانو د دین نه ښه خبر وو. او په انجیل باندے ښه پوهیدو. کله به ئے دے لره په عبرانئ ژبه کښې لیکلو کله په عربئ ژبه کښې د ناموس نه مراد جبرائیل دے او اصل نامه د ناموس د نیکے خبرے پټونکے. لکه جاسوس چه بدے خبرے پټونکی وی او ته وائی جبرائیل ته ناموس څکه وائی چه هغه د الله تعالی د وحی راز لره د بندیگانو پورے رارسوی. خو افسوس چه ورقه وفات شوے وو او رسول الله ﷺ د مدینے ته او ویستے شو. څنگه چه ورته ویلی وو.

أَنَّهُ قَالَ فَوَاللهِ لَا يُحْزِنُكَ اللهُ أَبَدًا وَقَالَ قَالَتْ خَدِيجَةُ أَيِ ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ يَقُولُ قَالَتْ عَائِشَةُ زَوْجُ النَّبِيِّ ﷺ فَرَجَعَ إِلَى خَدِيجَةَ تَرْجُفُ فُؤَادُهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ وَمَعْمَرٍ وَلَمْ يَذْكُرْ أَوَّلَ حَدِيثِهِمَا مِنْ قَوْلِهِ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ وَتَابَعَ يُونُسَ عَلَى قَوْلِهِ فَوَاللهِ لَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا وَذَكَرَ قَوْلَ خَدِيجَةَ أَيِ ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُحَدِّثُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ قَالَ فِي حَدِيثِهِ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسًا عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجُئِثْتُ مِنْهُ فَرَقًا فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَدَثَّرُونِي فَأَنْزَلَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ

کښې داسې وو. رسوا نۀ کړي او خدیجېؓ ورقه ته اووې. اې د ترۀ خویه واوره د خپل ورارۀ خبره (او په وراندې روایت کښې داسې وو اې ترۀ! واوره د خپل ورارۀ خبره)

د عُروه بن زبیرؓ نه روایت دې. هغوی ویلې دي چه زوجهٔ مطهره د رسول اللهﷺ حضرت عائشهؓ فرمائیلي دي چه هغوی واپس شو د خدیجېؓ طرفته او د هغویؓ زړۀ رپیدۀ.او په دې کښې دا ذکر نشته چه د ټولو نه مخکښې چه کومه وحی په هغهٔ باندې شروع شوې وه هغه رښتونې خوب وو. او د ورمبی روایت پشان په دې کښې داد دې چه قسم په الله چه اللهؕ به تا چرته رسوا نۀ کړي او خدیجېؓ ورقه ته اووې چه اې د ترۀ خویه! واوره د خپل ورارۀ (خبرې لرې)

د جابر بن عبد الله انصاریؓ نه روایت دې او هغه د رسول اللهﷺ د صحابو نه وو. فرمایلي دي رسول اللهﷺ او هغوی ذکر کولو د وحي د موقوف کیدو چه یو ځل زۀ روان وم ما د اسمان نه یو آواز واوریدو نو ما سره پورته کړو نو اوم لیدل چه هغه فرښته ده. کومه چه ما ته په حراء کښې راغلې وه په کُرسئ باندې ناسته ده د اسمان او د زمکې په مینځ کښې ما چه دا اولیدل نو ډیر زیات اویریدم.او واپس شوم کورته راغلم. ما اووې په ما باندې کپړه خوره کړه په ما باندې کپړه خوره کړه. هغوی ځمانه چاپیره کړه. بیا الله تعالی دا سورته رااولیږو. یَا أَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ د آخره پورې. یعنی اې څادر اغوستونکیه پاسه! او خلقو لره اویره وه. او د خپل مالک لوئي بیان کړه. او خپلو کپړو لره پاکې کړه، اوپلیتئ لره پریږدوه. د پلیتئ نه

وَهِيَ الْأَوْثَانُ قَالَ ثُمَّ تَتَابَعَ الْوَحْيُ

مراد هغه بتان دي بیا د وحی راتلل برابر شروع شو[1]

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ يُونُسَ وَقَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ إِلَى قَوْلِهِ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ قَبْلَ أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ وَهِيَ الْأَوْثَانُ وَقَالَ فَجُئِثْتُ مِنْهُ كَمَا قَالَ عُقَيْلٌ

د زهري نه روایت دے. دد ے سند سره د یونس د حدیث په شان او ویلی دی هغه نو نازل کړو خدائے پاک سوره مُدثر لره ۰ اے کمبل اغوستونکیه او پلیتی پریدوه پورے. مخکښې د هغې نه چه فرض کړے شی مونځ او پلیتی هغه بتان دی. او اووے هغه فَجِئْتُ مِنْه څنګه چه ویلی دی عقیل.

عَنْ يَحْيَى يَقُولُ سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ أَيُّ الْقُرْآنِ أُنْزِلَ قَبْلُ قَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ فَقُلْتُ أَوِ اقْرَأْ فَقَالَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ أَيُّ الْقُرْآنِ أُنْزِلَ قَبْلُ قَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ فَقُلْتُ أَوِ اقْرَأْ قَالَ جَابِرٌ أُحَدِّثُكُمْ مَا حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ شَهْرًا فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِي نَزَلْتُ فَاسْتَبْطَنْتُ بَطْنَ الْوَادِي فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ أَمَامِي وَخَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي فَلَمْ أَرَ أَحَدًا ثُمَّ نُودِيتُ فَنَظَرْتُ فَلَمْ أَرَ أَحَدًا ثُمَّ نُودِيتُ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا هُوَ عَلَى الْعَرْشِ فِي الْهَوَاءِ يَعْنِي جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام فَأَخَذَتْنِي رَجْفَةٌ شَدِيدَةٌ فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ

د یَحیی نه روایت دی چه ما د ابوسلمهؓ نه تپوس اوکړو د تولو نه مخکښې په قران کښې څۀ نازل شوی دی. هغوی اووے یَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ما اووے یا اقْرَأْ هغوی اووے ؛ ما د جابر بن عبد اللهؓ نه تپوس اوکړو. په قران کښې مخکښې څۀ نازل شوی دی. هغوی اوے يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ما اووے یا اقْرَأْ جابرؓ اووے زۀ تاته هغه حدیث بیانوم. کوم چه مونږ ته رسول اللهﷺ بیان کړے وو. هغه ویلی وو زۀ په حراء کښې د یو ے میاشتے پورے وم. هر کله چه خما د اوسیدو موده پوره شوله نو زۀ راکوز شوم او د وادئ د ته لاړم. چا ما ته آواز اوکړو. ما مخے ته او شا ته او ښی طرفته او ګس طرفته اوکتل څوک په نظر رانغے. بیا چا ماته آواز اوکړو نو ما سَر اوچت کړو. او چه اوم کتل نو هغه په هَوا کښې په یو تخت ناست ے وو. یعنی جبرائیل علیه السلام وو. ما هغه چه اولیدو نو سخته لرزه راباند ے راغله (د هیبت د وجے نه بیا زۀ د خدیجےؓ خواله راغلم او ما اووے په ما کپړه اوغوړه وه. هغوی په ما

---

[1] د تولو نه مخکښې په جناب رسول اللهﷺ هغه آیتونه نازل شوی دی کوم چه پورته په حدیث کښې بیان شول. یعنی اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ دد ے نه پس د یو ے مود ے پور ے چه د هغې په تعیین کښې اختلاف د ے وحی موقوف شوه بیا دا آیتونه د سورة مُدثر د شروع نازل شو. دد ے نه پس د وحی سلسله بنده نشو او برابر راتلل شروع شو امام نووی رحمه الله وائی اوس چه کوم بعضے خلق وائی. د تولو نه ورمبے سورة مدثر نازل شو دا ضعیف بلکه باطل د ے په د ے شان سره چه کوم خلق وائی چه د هر څۀ نه وړاند ے سورة فاتحه نازله شو ے ده.

فَقُلْتُ دَثِّرُونِي فَدَثَّرُونِي فَصَبُّوا عَلَيَّ مَاءً فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ

باندے کپړه خوره کړه. او اُوبه ئے را باندے واچولے (د هیبت لرے کولو د پاره) نو الله تعالی دا ایتونه را اولیږل يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (د دے ترجمه بره تیره شوے)

بَابُ الْإِسْرَاءِ بِرَسُولِ اللهِ ﷺ إِلَى السَّمٰوٰتِ وَفَرْضِ الصَّلَوَاتِ

باب : د رسول الله ﷺ اسمانونو ته تشریف وړل (یعنی معراج) او د مونځونو فرض کیدل[1]

---

[1] امام نووی وائی دا ډیر لوئے باب دے او زۀ په دے باب کښ لنډ لنډ مطلبونه د خپلے خپلے موقعے په مطابق بیانوم. او قاضی عیاض د معراج په باره کښ څو فقرے ډیرے ښکلی لیکلی دی. هغوی وئیلی دی چه خلقو اختلاف کړے دے چه دا معراج په څۀ حالت کښ وو. نو بعضو وئیلی دی چه دا ټول خوب وو. او کوم چه حق دے او اکثرو سلفو او متأخرینو دے لره اختیار کړے دے فقهاؤ او مُحدثینو او متکلمینو نه هغه دا دے چه معراج د بیدارئ په حالت کښ وو. او هغه د خپل جسم مبارک سره تشریف وړے وو. او حدیثونه په دے امر باندے دلالت کوی او په ظاهر سره د عدول کولو د پاره څۀ وجه نشته دے. او نۀ دا مجال دے چه د تاویل احتیاج وی. او شریک د معراج په روایت کښ څو خایه وَهَم کړے دی. چه په هغے باندے انکار کړے دے علماؤ تقدیم او تاخیر کمے او زیاتے کړے دے. یو د هغے نه دا دے چه هغه معراج لره د نبوت نه مخکښ نقل کوی. حالانکه دا غلط دے. معراج کم ازکم د نبوت نه شپږ میاشتے پس واقع شوے دے. او حربی وئیلی دی چه معراج د ربیع الثانی په اوویشتمه شپه د هجرت نه یو کال وړاندے شوے وو. او زهری وائی چه معراج د نبوت نه پنځۀ کاله پس شوے دے. او اسحاق وائی چه معراج هغه وخت اُوشو هر کله چه اسلام په مکه کښ خور شوے وو. او د عربو په قبیلو کښ او په دے ټولو قولونو کښ د زهری او ابن اسحق قول زیات صحیح دے. ځکه چه ټولو په اتفاق وئیلی دی چه حضرت خدیجے د حضور ﷺ سره مونځ اوکړو د مانځۀ د فرض کیدو نه پس. او په دے خبره کښ اختلاف نشته چه حضرت خدیجه د هجرت نه درے کاله مخکښ وه. او بعضے وائی چه پنځۀ کاله مخکښ. دویمه دا چه عالمانو اتفاق کړے دے په دے امر باندے چه مونځ د معراج په شپه فرض شوے دے. بیا معراج د نبوت نه مخکښ څنګه کیدے شی. او دا چه کوم د شریک په روایت کښ دی چه هغه اوده وو. او په دویم روایت کښ دی چه د خوب او د ویښی په مینځ کښ وو د خانۀ کعبه سره. نو د دے نه دا خبره ثابتیږی چه معراج په خوب کښ وو. ولے چه دا حالت د هغه وخت دے. هر کله چه هغۀ ته فرښته راغله او په حدیث کښ د دے کوم ځائے ذکر دے چه ټوله قصه په خوب کښ تیره شوه. ختم شو کلام د قاضی عیاض. نووی وائی د شریک نه سوا د معراج حدیث لره نورو حافظانو او عالمانو روایت کړے دے لکه ابن شهاب او ثابت بنانی او قتاده د انس نه. او هغوی د شریک خبرے نۀ بیان کړی او شریک د محدثینو په نز حافظ نۀ دے. د اردو کتاب مترجم وائی چه کومو خلقو د معراج حالت په بیدارئ کښ د جسم سره انکار کړے دے د هغوی انکا رد دوو وجو نه دے. خو دا چه دومره قدرے تیز حرکت په قیاس کښ نۀ راځی. چه د لکونو کروړونو کلونو فاصله د یو جسم په لږ وخت کښ طے کړی. او بیا د هغے په اجزاء کښ اتصال قائم پاتے شی. دویم دا چه اسمان په مثل د پیاز د پوستکی یو پوستکے د بل سره ملاؤ شوی دی. او هغه د چاؤدو او یو ځائے کیدو قابل نۀ دی. دویمه شُبهه خو صرف د بطلیموس د تقلید نه پیدا شوے وه. ولے چه هغه خو اسمان کلک او سخت د یو سره یو ملاو شوے وئیلے دے. او د هغۀ راوستلے شوے نظام مسلمانانو په عربئ ژبه کښ نقل کړو. او هم هغه په مسلمانانو کښ شائع شو. حالانکه پخپله حکماؤ هغه نظام لره باطل کړو او د اسمانونو جسم

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُتِيتُ بِالْبُرَاقِ وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيلٌ فَوْقَ الْحِمَارِ وَدُونَ الْبَغْلِ يَضَعُ حَافِرَهُ عِنْدَ مُنْتَهَى طَرْفِهِ قَالَ فَرَكِبْتُهُ حَتَّى أَتَيْتُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ قَالَ فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ الَّتِي يَرْبِطُ بِهِ الْأَنْبِيَاءُ قَالَ ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَصَلَّيْتُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ

د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خما مخے ته براق راوستے شو او هغه یو ځناور دے د سپین رنګ اوګد د خر نه دنګ او د قچر نه وړوکے خپله خپه یعنی سُم هغه ځائے ګدی د کومے پوری چه د هغهٔ نظر رسی. (نو په یوه لمحه کښ د اسمانه پورے تلے شی) زهٔ په هغے باندے سور شوم او د بیت المقدسه پورے راغلم هلته م هغه ځناور په هغه حلقه سره اوتړلو کوم ځائے چه نورو پیغمبرانو به خپلو خپلو ځناورو لره تړل (دا حلقه د جماعت د دروازے سره ده. او د تړلو نه دا معلومه شوه چه انسان لره د خپلو څیزونو احتیاط او حفاظت ضروری دے او دا د توکل نه خلاف نهٔ دے) بیا زهٔ جماعت ته دننه شوم او دوه رکعته مونځ م اوکړو او د هغے نه پس بهر راووه تم نو

داسے چه په هغے کښ څهٔ څیز داخلیدے نهٔ شی غلطه شوه او ثابت شو دا امر چه په زرګونو ستوری او اجسام په دغه اسمانونو کښ چه د فضا په شان معلومیږی ګردش کوی. او کهٔ چرے دا امر اومنلے شی چه اسمانونه کلک او سخت اجسام دی نو دا د کوم ځائے نه معلومه شوه چه په دے کښ دروازے او لارے نشته دے. او فرض کړه کهٔ داسے هم وی نو دا د کوم ځائے نه معلومه شوه چه هغه چاؤدلو والا او جمع کیدلو والا نهٔ دی کوم دلیل چه رومبنو حکماؤ د اسمانونو په نهٔ چاؤدو باندے قائم کړے دے هغه د څو خایونو نه خطرناک دے او د هغے مقدمات ممنوع دی اوس پاتے شو وړمبے امر نو د هغے جواب داد ے چه صرف په قیاس کښ د نهٔ راتلو سره یو امر محال کیدے نهٔ شی. پخپله د زمکے حرکت ته اوګورئ دوه کم شپیتهٔ زره میله په یوه ګنټهه کښ وهی یعنی د توب د ګولئ نه شپږ شلے ګنا تیزه روانه وی خو نهٔ د زمکے په اجزاء کښ تفریق پیدا کیږی او نهٔ مونږ ته د څهٔ قسم پریشانی په داسے تیز حرکت سره حاصلیږی. او د کومو خلقو په نز چه نمر متحرک دے او زمکه ساکنه ده. نو نمر د زمکے نه دلس کروړه زمکے په فاصله باندے کیدو سره ددهٔ مدار د شپیتهٔ کروړه میله شو. او شپیتهٔ لره په دوه سوه څلویښت باندے تقسوم کړه نو په هر یو ساعت کښ دوه نیم کروړه میله د نمر حرکت شو حالانکه په دومره قدرے تیز حرکت سره هم نهٔ د نمر جسم چوی. او نهٔ د هغے په اجزاء کښ تفرق راځی اوس دد ے نه هم زیات تیز حرکت ته اوګورئ رنړا کومه چه د نمر نه زمونږ پورے رارسی دد ے رنړا حرکت په یو منټ کښ یو کروړ شل لکه میله دے کهٔ چرے څوک وائی چه رنړا یو عرض دے. چه ددویم جسم نه قائم دے. او کلام د جواهرو په حرکات کښ دے نو دد ے جواب داد ے چه دغه خیال غلط دے چه رنړا عرض دے. بلکه رنړا یو جسم دے. چه د وړو وړو اجزاؤ نه مرکب دے او هغه اجزاء ډیر په تیزئ سره د رنړا جسم نه هر طرفته نوستلے کیږی. بیا چه هر کله د حرکت د تیزئ څهٔ انتها را اونهٔ وته او نهٔ د جسم د سختئ. په دے صورت کښ د خداوند کریم د قادر مطلق د قدرت کامله نه څهٔ لرے نهٔ ده. هغه یو جسم لره چه څومره غواړی تیز والے ورکوی اګر کهٔ زمونږ د قیاس او عادات نهٔ لرے وی. ابوجهل په خپل قیاس سره معراج لره بعید اوګنړو او د هغے نه ئے انکار اوکړو او حضرت صدیق د عقل سلیم نه کار واخستو او د معراج شریف تصدیق ئے اوکړو وَذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ

فَقَالَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَرْتَ الْفِطْرَةَ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِآدَمَ فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِابْنَيْ الْخَالَةِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَيَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّاءَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمَا فَرَحَّبَا وَدَعَوَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِيُوسُفَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قَالَ

حضرت جبریلؑ دوه لوښی رااخستے وو او راغے. په یو کښې شراب وو او په بل کښې پئ وو. ما پیو لره غوره کړل (یعنی او څکل م) نو جبرائیلؑ ځما سره اسمان ته اوختلو (هر کله چه اسمان ته اورسیدو) نو د دروازے د لرے کولو دپاره ئے فرښتو ته اووے. هغوی تپوس اوکړو څوک ئے جبرائیل اووے ! زهٔ جبرائیل یم هغو اووے ستا سره دویم څوک دے. جبرائیلؑ اووئے ! محمد ﷺ دے. فرښتو تپوس اوکړو ولے هغه غوښتلے شوے وو؟ جبرائیلؑ اووے. آو غوښتلے شوے دے. بیائے دروازه کهولاؤ کړه زمونږ دپاره . او مونږ حضرت ادمؑ اولیدو هغوی مرحبا اووے. او ځما دپاره ئے د غوره والی دُعا اوکړه. بیا جبرائیلؑ زمونږ سره دویم اسمان ته اوختو او د دروازے د لرے کولوئے اوویل. فرښتو تپوس اوکړو څوک ئے؟ هغوی اووے جبرائیلؑ یم. فرښتو اووے ستا سره دویم څوک دے. جبرائیلؑ اووے محمد ﷺ دے. فرښتو اووے ولے دهٔ ته دغوښتلو حکم شوے وو؟ جبرائیلؑ اووے آو دهٔ ته حکم شوے دے. بیائے دروازه لرے کړه نو ما دواړه د تروریٔ خامنو لره اولیدل یعنی عیسیٰ بن مریم او یحییٰ بن ذکریاؑ لره هغوی دواړو مرحبا اووے. او ځما دپاره ئے د بهتریٔ دعا اوکړه. بیا جبرائیلؑ زمونږ سره دریم اسمان ته اوختو او ددروازے د لرے کولو دپاره ئے آواز اوکړو. فرښتو اووئیل څوک دے؟ جبرائیلؑ اووے. جبریلؑ دے. فرښتو اووے دویم ستا سره څوک دے؟ جبرائیلؑ اووے محمد ﷺ دی. فرښتو اووے ولے دهٔ ته د راتلو پیغام ورکړے شوے وو؟ جبرائیلؑ اووے آو دهٔ ته پیغام ورکړے شوے وو. بیائے دروازه لرے کړه نو ما حضرت یوسفؑ اولیدو. الله د حسن نیمه حصه هغهٔ ته ورکړے وه. هغوی ماته مرحبا اووے او نیکه دُعائے راته اوکړه. بیا جبرائیلؑ مونږه

وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِدْرِيسَ فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الْخَامِسَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِهَارُونَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِمُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ فَقِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْنِدًا ظَهْرَهُ إِلَى الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ وَإِذَا هُوَ يَدْخُلُهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ لَا يَعُودُونَ إِلَيْهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِي إِلَى السِّدْرَةِ

څلورم اسمان ته اوخیژولو. او د دروازے د لرے کولو نے اووے فرښتو تپوس اوکړو څوک دے. جبرائیلؑ اووے جبرائیل دے. فرښتو تپوس اوکړو ستا سره دویم څوک دے. جبرائیلؑ اووے محمد ﷺ دے. فرښتو اووے. ولے دے غوښتلے شوے دے. جبرائیلؑ اووے. آو غوښتلے شوے دے. بیائے دروازه لرے کړه نو ما ادریسؑ اولیدو. هغوی ماته مرحبا اووے او ښهٔ دعا ئے اوکړه ماته الله جل جلاله فرمائی مونږه اوچت کړه ادریسؑ په لوړ مقام باندے ،نو د لوړ مقام نه دغه څلورم اسمان مراد دے. بیا جبرائیلؑ زمونږ سره پنځم اسمان ته اوختو او د دروازے لرے کولو دپاره ئے آواز اوکړو. فرښتو تپوس اوکړو څوک ئے. هغهٔ اووے جبرائیلؑ دے. بیائے اووے څوک دی ستا سره. هغهٔ اووے محمد ﷺ دے. فرښتو اووے ولے هغه غوښتلے شوے دے؟ جبرائیلؑ اووے آو! غوښتلے شوے دے. بیائے دروازه بیرته کړه نو ما حضرت هارونؑ اولیدو. هغوی مرحبا اووے او ماته ئے نیکه دُعا اوکړه. بیا جبرائیلؑ زمونږ سره شپږم اسمان ته اورسیدو او د دروازے د لرے کولو ئے اووے. فرښتو تپوس اوکړو څوک ئے؟ جبرائیلؑ اووے جبرائیلؑ دے. فرښتو اووے ستا سره بل څوک دے؟ جبرائیلؑ اووے محمد ﷺ دے. فرښتو اووے ولے دهٔ ته خدائے پاک خپل خان ته د رابللو پیغام لیږلے وو. جبرائیلؑ اووے آو لیږلے وو. بیائے دروازه بیرته کړه. نو ما حضرت موسیٰؑ اولیدو. هغوی اووے مرحبا او ما ته ئے ښهٔ دُعا اوکړه. بیا د جبرائیلؑ سره اووم اسمان ته اوختو. پس جبرائیلؑ دروازه لرے کوله فرښتو تپوس اوکړو څوک ئے؟ هغهٔ اووے جبریلؑ دے. تپوس اوکړو ستا سره بل څوک دے؟ هغهٔ اووے محمد ﷺ دے. فرښتو تپوس اوکړو ولے هغه غوښتلے شوے دے هغوی اووے آو

الْمُنْتَهَى وَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيَلَةِ وَإِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلَالِ قَالَ فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ أَمْرِ اللهِ مَا غَشِيَ تَغَيَّرَتْ فَمَا أَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللهِ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَنْعَتَهَا مِنْ حُسْنِهَا فَأَوْحَى اللهُ إِلَيَّ مَا أَوْحَى فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَنَزَلْتُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ ذَلِكَ فَإِنِّي قَدْ بَلَوْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَخَبَرْتُهُمْ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّي فَقُلْتُ يَا رَبِّ خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِي فَحَطَّ عَنِّي خَمْسًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقُلْتُ حَطَّ عَنِّي خَمْسًا قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ ذَلِكَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ قَالَ فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَبَيْنَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ حَتَّى قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ فَذَلِكَ خَمْسُونَ صَلَاةً وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ

غوښتلے شوے دے بیائے دروازه لرے کړه نو ما ابراهیم اُولیدو. هغه پخپله شاسره بیتُ المعمور ته ډډه وهلے وه (ددے نه معلومه شوه چه قبلے طرفته شا کول او کیناستل صحیح دی) او هغے ته هره ورځ اویا زره فرښتی داخلیږی چه هغه بیا چرته نهٔ واپس کیږی. بیا جبرائیلؑ زهٔ سدرة المنتهٰی ته بو تلم چه د هغے پاڼے دومره لوئے وے لکه د هاتی غوږونه او د هغے میوه لکه بوقه (یولوئے منګے چه په هغے کښې دوه مشکه یا د هغے نه زیاتے اُوبه راځی). بیا چه هر کله دغے اونے لره د الله په حکم سره پټه شوه نو د هغے حال داسے شو چه څوک مخلوق د هغے ښکلوالے بیانولے نهٔ شی. بیا الله جل جلاله اوغورځول خما په زړهٔ کښې څهٔ چه ئے غورځول او پنځوس مونځونه ئے په هره شپه او ورځ کښې په ما باندے فرض کړل هر کله چه زهٔ د هغه ځائے نه راکوز شوم او موسیٰؑ ته رااورسیدم. نو هغوی تپوس اوکړو ستا پروردګار ستا په امت باندی څهٔ فرض کړل ما اووے پنځوس مونځونه ئے پرے فرض کړل هغوی اووے بیا واپس لاړ شه خپل پروردګار لره. او کم والے تر نه اوغواړه ولے چه ستا په امت کښې به د دومره مونځونو کولو طاقت نهٔ وی. او ما خپلو بنی اسرائیلو لره ازمایلی دی. او د هغوی امتحان م اخستے دے. زهٔ واپس شوم خپل پروردګار ته مے عرض م اوکړو چه اے پروردګاره کمے اوکړه خما په امت باندے. الله تعالی تر نه پنځهٔ مونځونه کم کړل زهٔ واپس شوم او د موسیٰؑ خواله راغلم او ورته م اووے چه پنځهٔ مونځونه راته خدائے پاک معاف کړل هغوی اووے ستا په امت کښې به دومره طاقت نهٔ وی تهٔ خپل رب له بیا لاړ شه او کم ئے کړه. هغهٔ به فرمائیل او زهٔ به هغه شان برابر د پروردګار او د حضرت موسیٰؑ په مینځ کښې تلم راتلم. تردے پورے چه الله جل جلاله او

تُكْتَبْ شَيْئًا فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ سَيِّئَةً وَاحِدَةً قَالَ فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ

فرمایل چه اے محمد ﷺ هغه پنځه مونځونه دی او د هرے شپے او د هرے ورځے په مونځونو کښې په یو مونځ کښې د لسو مونځونو ثواب دے. نو دغه پنځوس مونځونه شول (سبحان الله د مالک څومره عنایت په خپلو غلامانو باندے دے چه لوی خو پنځهٔ مونځونه او ثواب ورته د پنځوسو ملاویږی) او کوم سړے چه نیت اوکړی د نیک کار کولو او بیا هغه اونهٔ کړی نو دهٔ ته به د یوے نیکئ ثواب ملاویږی او چه ئے اوکړی نو د لسو نیکو. او کوم سړے چه نیت اوکړی د د بدئ او بیائے او نهٔ کړی نو څهٔ پسے نهٔ لیکلے کیږی او کهٔ چرے اوئے کړی نو یوه بدی لیکلے کیږی. حضرت ﷺ فرمائی بیا زهٔ راکوز شوم او د حضرت موسیٰ ؑ خواله راغلم. هغوی اووے واپس شه خپل پروردګار ته او کم والے اوغواړه. رسول الله ﷺ اوفرمایل چه زهٔ خپل پروردګار ته بیا بیا واپس شوم تر دے پورے چه ماله د هغهٔ نه شرم راغے [1]

---

[1] براق بضم با د هغه خناور نوم دے چه په هغے باندے رسول الله ﷺ د معراج په شپه سور شوے وو زبیدی او صاحب تحریر ویلی دی چه براق هغه خناور دے چه په هغے باندے تولو پیغمبرانو سورلی کړے ده خو د نورو پغمبرانو په هغهٔ باندے سورلی کول دلیل غواړی. ابن دُرید ویلی دی. براق د برق نه وتلے دے برق ویلے شی بجلئ ته ددے خناور نوم ځکه براق شو چه د هغهٔ چال د بجلئ په شان تیز وو او بعضو ویلی دی ځکه چه هغه د بجلئ په شان صفا او سُتهرا او چمکدار وو او بعضو ویلی دی ځکه چه هغه سپین وو قاضی عیاض ویلی دی احتمال دے چه په دغه خناور کښې دوه رنګه وی ولے چه برقاء هغه بزے ته ویلے کیږی چه د هغے په سپین والی کښې تورے کرښے وی او په حدیث کښې پخپله موجود دے چه د هغه خناور رنګ سپین وو نو برقاء هم په سپین رنګ کښې داخل دے (نووی) مُقَدَّس یا مُقَدِّس دواړل صحیح دی. او مشهور معنے ددے دادی دپاکئ کور ولے چه هلته انسان د ګناهونو نه پاک کیږی یا هغه مکان پخپله پاک دے د بتانو د ګندګئ نه. نووی ویلی دی په دے روایت کښې اختصار دے او مراد دادے چه جبرائیل علیه السلام حضرت ﷺ ته اختیار ورکړو چه په دے دواړو لوخو کښې چه کوم یو غواړے اختیار کړه هغوی پئ غوره کړل لکه چه په دویم روایت کښې د ابو هریره ؓ صفا موجود دی چه هغه ته الهام اوشو د پیو د اختیارولو او د فطرت نه مراد اسلام او استقامت دے او مطلب دادے چه تا د اسلام علامت لره او په هغے باندے استقامت لره اختیار کړو او پئ د اسلام علامت ددے وجے نه شو چه هغه پاکیزه خوشګوار او نیک انجام دی. او شراب خو د تولو ناپاکو بدئ پیدا کوی. انتهی د اردو کتاب مترجم وائی چه ممکنه ده چه د فطرت نه مراد دلته لغوی معنی د فطرت وی یعنی پیدانش او افرینش او مقصود دادے چه پئ فطری غذا ده د انسان هر کله چه بنده پیدا شی نو د هغهٔ پرورش بغیر د پیو نه مشکل دے او پئ هغه غذا ده. چه زیاته قوی. زر هضمیدونکے. د اندامو غتونکے. او د بدن پرورش کونکے. او په دے کښې غذائیت او مائیت دواړه موجود دی او هغه فطری یعنی پیدائشی دے خداوند کریم دے لره

جوړ کړی دی د انسان صنعت لره په دے کښ دخل نشته په خلاف د شرابو چه ئۀ په هغے کښ غذائیت دے چه د انسان د بدن د پرورش دپاره کافی شی. نۀ هغه فطری دی بلکه د انسان د ترکیب او صنعت نه تیار شوی دی او څومره قدرے منفعت چه دد ے نه حاصلیږی د هغے نه زیات تر نه ضرر او نقصان پیدا کیږی. نوویؒ وائی دد ے خائے نه څو خبرے معلومے شولے یوه دا چه هر کله کور والاد دننه نه آواز اوکړی چه ته څوک ئے؟ نو د هغے په جواب کښ به خپل نوم اخلے نۀ دا چه "زۀ" یم ولے چه دد ے ممانعت راغلے دے او "زۀ" ویل بے فائدے دی. دویمه دا چه په اسمان کښ دروازے دی دریمه دا چه په دروازو باندے محافظ او چوکیداران دی مرحبا هغه لفظ دے چه دے لره د عربو خلق د میلمه د راتلو په وخت کښ وائی. یعنی ته بنۀ او فراخه ځائے ته راغلے دد ے نه معلومه شوه چه کوم سړے ملاقات له راشی د هغۀ خاطر داری کول . او په روڼ تندی سره ملاویدل. د هغۀ تعریف کول په شرط دد ے چه مغرور نۀ وی صحیح دی او دا طریقه ده د انبیاؑ بیت المعمور یو کور دے. د کعبے په طرف د اسمانونو دپاسه دے کورته معمور خکه ویلے شی چه هغه همیشه اباد وی او هره ورځ نوے نوے فرښتے اویازره هلته د عبادت دپاره راځی چه هغه بیا چرته نۀ راځی.دد ے نه معلومول پکار دی چه فرښتے څومره بے حسابه دی. سدرة المنتهٰی یوه اونه ده د بیرے د اوو اسمانونو د پاسه. او هغه حد دے د فرښتو د تلو یا حد دے د هغه علم چه د هغے نه مخکښ علم سوا د خدائے پاک نه بل چاته نشته دے. ابن عباسؓ وائی چه د هغے نوم سدرة المنتهٰی خکه شو چه د ملائیکو علم دهغه ځائے پورے ختم شوے دے. او ددغے نه وراندے څوک نه دی تلی سوا د رسول اللهﷺ نه. او د عبد الله بن مسعودؓ نه منقول دے چه دے ته منتهٰی خکه ویلے کیږی. چه څۀ د بره نه نازلیږی هغه دلته راځی اودریږی او کوم څۀ چه د لاندے نه ورخیژی هغه هم هلته اودریږی. یعنی د خدائے حکم یعنی هر کله چه د الله جل جلاله خاص تجلّی په هغه اُونه باندے اوشوه نو د هغے رنګ شکل بل شو. او حسن جمال د هغے بے مثاله شو. چه د هغے صفت د بیانولو نه دے. ربنتیا دی د مخلوق څۀ طاقت دے چه د خپل خالق ذوالجلال تعریف اوکړی. دد ے نه صفا ثابته شوه عقیده د سلف اُمت چه خدائے تعالی په خپل عرش باندے د اسمانونو دپاسه دی ورنه د واپس کیدو به څۀ معنی وی. نوویؒ په دے مقام باندے دا تاویل کړے دے. چه زۀ واپس شوم د هغه ځائے نه کوم ځائے چه ما د خداوند کریم سره خبرے کړے وے. او بیائے عرض اوکړو دوباره او نقل کړی دی دے لره مولانا ابوطیب په سراج الوهاج کښ او نۀ دے رد شوے دے تاویل لره حالانکه دا تاویل مردود دے او نوویؒ د متاخرینو متکلمینو په تقلید کښ دا خیال کړے دے چه هغه خداوند کریم لره د جهت او مکان نه مُنَزَّه خیال کوی. او د حدیثو عالمان او سلف صالحین په مذهب باندے په دے حدیث کښ د څۀ تاویل ضرورت نشته دے خکه چه ددوی په نز د خدائے مکان عرش دے او هغه جهت په فقو کښ دے بس مطلب د حدیث صفا دے چه زۀ خداوند کریم له لاړم او کومو خلقو چه دا خیال کړے دے چه معاذ الله د خدائے پاک ذات هر ځائے دے او د عرش نه ذات لره څۀ خصوصیت نشته دے د هغوی په طریقه باندے د معراج څۀ فضیلت نۀ رااوځی او نۀ د دومره تکلیف څۀ ضرورت معلومیږی چه د شپے په وخت کښ د اُوو اسمانونو سفر هغۀ ته مخکښ راشی. ولے چه د هغوی په نز خو په زمکه باندے هم د خدائے پاک ذات موجود دے. بیا د اووه اسمانونو نه پورته د بوتلو څۀ مقصود وو لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ دا کم بخته عقیده د جهم بن صفوان نه خوره شوے ده چه هغه په زرګونو مسلمانانو لره ګمراه کړی دی. او تر اوسه پورے د هغۀ ګمراهی قائمه ده او خلاصے ورکړے دے رب ذوالجلال د دغه شیطان د شر نه د حدیث عالمانو او سلفو صالحینو لره او چا د هغوی تابعداری اختیار کړے ده الله پاک د زموږ د تولو د سلفو تابعداری نصیب کړی. او زموږ حشر د هم د هغوی سره کړی آمین یا رب العالمین دد ے حدیث نه صفا معلومه شوه چه زموږ پیغمبرﷺ د الله جل جلاله سره بلاواسطه خبرے کړے دی او الله پاک هغۀ ته جواب ورکړے دے اوس هغه خلق چه هغه وائی خدائے خبرے نۀ کوی معاذ الله او نۀ د هغۀ په خبرو کښ آواز او حروف دی دغه کسان لکه د احادیثو او ایتونو رد کوی د کومو نه چه خاص د الله پاک خبرے کول او په هغے کښ آواز کول ثابت دی یعنی په بار بار عرض کولو سره او

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيتُ فَانْطَلَقُوا بِي إِلَى زَمْزَمَ فَشُرِحَ عَنْ صَدْرِي ثُمَّ غُسِلَ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ أُنْزِلْتُ

د انس بن مالک نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلی دی ماله دهو فرښتے راغلے او زۀ ئے د زم زم خوله بوتلم او بیائے خما سینه اوڅیرله او د زم زم په اُوبو سره ئے اووینځله بیائے پریخودم زۀ په خپل ځائے باندے[1]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ فَاسْتَخْرَجَ الْقَلْبَ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً فَقَالَ هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ ثُمَّ غَسَلَهُ فِي طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ لَأَمَهُ ثُمَّ أَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى أُمِّهِ يَعْنِي ظِئْرَهُ فَقَالُوا إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ قَالَ أَنَسٌ

د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له جبرائیل راغے او هغه د هلکانو سره لوبے کولے هغوی هغه لره او نیوو او په زمکه ئے بسملا وو. او زړۀ ئے ورله اوڅیرلو او رااوویستونے او د وینے یود کلکه ټکړه ئے تر نه اوغور خوله او اوئے ویل چه دومره حصه د شیطان ود په تا کښ بیائے هغه زړۀ وینځلو د سروزرو په خانک کښ د زمزم په اُوبو سره ددے نه دا نۀ ثابتیږی چه مونږ لره د سروزرو د لوښو استعمال جائز دے ولے چه دا دفرښتو فعل وو او ممکنه دد چه د هغوی شریعت زمونږ د شریعت بدل وی دویمه دا چه ددغه وخت پورے د سروررو استعمال حرام شوے نه وو، بیای وروستو هغے لرد او په خپل ځائے ئے کینبودو. او هغه هلکان په منډه منډ د خپلے مور خواله راغلل یعنی د دائی مور د پیغمبر ﷺ خواله او ورته ئے اووے چه

کمی غوبنتلو سره اوس ماته شرم راغے اوس نه شم تلے لکه چه د هغۀ خیال وو چه خما امت به دا پنځه مونځونه هم روزانه نه ادا کوی خو کومه چه خدائے ته منظور وه هغه اُوشوه دا چه کوم بار بار تخفیف اوشو نو علماؤ اختلاف کړے دے په دے کښ چه وړاندے د نخو سو مونځونو حه کوم حکم شوے وو هغه وجوبی وو یا غیر وجوبی خطابی ویلی دی هغه حکم غیر وجوبی وو ګنی کم والے یکښ ځنګه اُوشو او صحیح دادہ چه هغه حکم وجوبی وو ولے چه کۀ غیر وجوبی وے نو د کمی د غوښتو ضرورت نه پریوتو اوس دا تخفیف نسخ دے مخکښ د عمل نه او هغه جائز وو

[1] یعنی هغه ځائے د کوم ځائے نه چه بوتلے وو دا معنی په هغه صورت کښ ده هر کله چه په حدیث کښ انزلت په ضم د تا صیغه واحد متکلم مجهول وی او کوم چه په سکون د تا وی صیغه واحد مؤنث مجهول نو په دے صورت کښ به د هغے مفعول مالم یُسَمَّ فاعله محذوف وی او هغه مذکور دے د برقانی په روایت کښ په دے شان ثُمَّ أُنْزِلَتْ علی طست من ذهب مملوة حکمة یعنی بیا راُوغورځیدۀ په ما باندے یو تهالے د سروزرو یعنی یو خانک د سروزرو، چه په هغے کښ حکمت ډک شوے وو یعنی هغه د ایمان او حکمت نه ډک شوے لوخے ئے خما په څیرلے شوے سینه کښ راواړولو او بیائے خما سینه ملاو کړه جوړه شوه او ماته هیڅ درد او تکلیف نه وو، مترجم

وَقَدْ كُنْتُ أَرَى أَثَرَ ذَلِكَ الْمِخْيَطِ فِي صَدْرِهِ

محمد ﷺ نے اوو ژلو ددے په اوریدو سره خلقو مندے کړے چه اونے کتل (نو هغه صحیح او سالم وو او) رنګ نے بدل شوے وو (د یرے نه) انس ؓ وائی ما د هغے ګنډلو (چه حضرت جبرائیل کړی وو) د حضرت په سینه مبارکه باندے نخښه لیدلے وه

عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُنَا عَنْ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدِ الْكَعْبَةِ أَنَّهُ جَاءَهُ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ نَحْوَ حَدِيثِ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ وَقَدَّمَ فِيهِ شَيْئًا وَأَخَّرَ وَزَادَ وَنَقَصَ

د شریک بن عبد الله ؓ نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د انس بن مالک ؓ نه چه هغه بیان کولو د هغه شپه چه معراج شوے وو د رسول الله ﷺ لره د کعبے د مسجد نه هغه له درے فرښتے راغلے د وحی د راتلو نه مخکښ او هغه په جماعت کښ اوده وو. بیانے بیان کړلو حدیث لره په هغه شان لکه چه ثابت روایت کړے دے د انس نه لیکن مخکښئے بیان کړی دی بعضے خبرو لره. او زیات کړے کم کړے ئے دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جِئْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام لِخَازِنِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَفَتَحَ قَالَ فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَإِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے چه ابوذر غفاری ؓ حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مات کړے شو چهت ځما د کور او زهٔ په مکه کښ وم. او جبرائیل ؑ راکوز شو. هغوی ځما سینه اوڅیرله بیائے هغے لره اووینځله د زم زم په اوبو باندے بیائے یو خانک د سروزرو راوړو چه هغه د حکمت او ایمان نه ډک و. او راتوئی ئے کړو هغے لره لره ځما په سینه کښ. او د هغے نه پس ئے یو ځائے کړه ځما سینے لره. او ځما لاس ئے اونیوو او اسمان ته اورسیدو. نو جبرائیل ؑ دربان ته اووے. کهولاو کړه. هغه تپوس اوکړو څوک دے؟ جبرائیل ؑ اووے جبرائیل ؑ دے. تپوس اوشو چه نور هم ستا سره څوک شته جبرائیل اووے آو محمد ﷺ دے. تپوس اوشو ولے هغه غوښتلے شوے دے (جبرائیل) اووے آو. بیا هغه دروازه بیرته کړه. هرکله چه مونږ د اسمان دپاسه لاړو. نو یو سړے م اولیدو چه د هغهٔ

وعن يسارهِ أسودةٌ قال فإذا نظر قبل يمينه ضحك وإذا نظر قبل شماله بكى قال فقال مرحبا بالنبي الصالح والابن الصالح قال قلت يا جبريل من هذا قال هذا آدم صلى الله عليه وسلم وهذه الأسودة عن يمينه وعن شماله نسم بنيه فأهل اليمين أهل الجنة والأسودة التي عن شماله أهل النار فإذا نظر قبل يمينه ضحك وإذا نظر قبل شماله بكى قال ثم عرج بي جبريل حتى أتى السماء الثانية فقال لخازنها افتح قال فقال له خازنها مثل ما قال خازن السماء الدنيا ففتح فقال أنس بن مالك فذكر أنه وجد في السماوات آدم وإدريس وعيسى وموسى وإبراهيم صلوات الله عليهم أجمعين ولم يثبت كيف منازلهم غير أنه ذكر أنه قد وجد آدم عليه السلام في السماء الدنيا وإبراهيم في السماء السادسة قال فلما مر جبريل ورسول الله صلى الله عليه وسلم بإدريس صلوات الله عليه قال مرحبا بالنبي الصالح والأخ الصالح قال ثم مر فقلت من هذا فقال هذا إدريس قال ثم مررت بموسى عليه السلام فقال مرحبا بالنبي الصالح والأخ الصالح قال قلت من هذا قال هذا موسى قال ثم مررت بعيسى فقال مرحبا بالنبي الصالح والأخ الصالح قلت من

ښے طرفته هم ګڼړه وه (د روحونو) او ګس طرفته ئے هم ګڼړه وه هغه چه هر کله ښی طرفته ګوری نو خاندی او کله چه ګس طرفته به ئے کتل نو ژړل به ئے هغه چه کله زۀ اولیدم نو اوئے ویل مرحبا اے نیک بخته نبی او نیک بخت خویه ما د جبرائیلؑ نه تپوس اوکړو دا څوک دے؟ هغوی اووے دا ادمؑ دے او دا چه د خلقو کومه ګڼړه د هغۀ نه ښی طرفته او ګس طرفته دی دا د هغۀ اولاد دے نو ښی طرفته هغه خلق دی کوم چه به جنت ته ځی او ګس طرفته هغه خلق دی چه هغه به جهنم ته داخلیږی. څکه چه هر کله هغه ښی طرفته ګوری نو (د خوشحالئ په وجه) خاندی او هر کله چه هغه ګس طرفته ګوری نو (درنځ او غم په وجه) ژاړی بیا حضرتﷺ فرمائی. جبرائیلؑ زۀ واخستم او په پورته روان شو ترے چه دویم اسمان ته اورسیدو. او د هغے څوکیدار ته ئے اووے دروازه لرے کړه. هغه هم داسے اووے لکه څنګه چه د وړمبی اسمان څوکیدار ویلی وو. بیائے دروازه بیرته کړه. انس بن مالکؓ وائی رسول اللهﷺ په اسمانونو کښ د حضرت آدم، او دادریس او عیسیٰ او موسیٰ او ابراهیم علیهم السلام سره ملاقات اوکړي او دا بیان ئے نۀ دے کړے چه ددوی نه هر یو په کوم اسمان باندے ملاو شو خو دومره ئے ویلی دی چه د ادمؑ سره په وړمبی اسمان باندے ملاقات اوشو. او د ابراهیمؑ سره په شپږم اسمان کښ هر کله چه جبرائیلؑ او حضرتﷺ د ادریسؑ په خواه تیریدل نو هغوی اووے مرحبا اے نبی صالح. حضرتﷺ تپوس اوکړو دا څوک دے. جبرائیلؑ اووے دا ادریس دے بیا زۀ د حضرت موسیٰؑ په خواه باندے تیر شوم. هغوی اووے مرحبا یا نبی صالح او روره صالح ما تپوس اوکړو دا

هذا قَالَ هذا عِيسى ابنُ مريمَ قَالَ ثُمَّ مررتُ
بإبراهيم عليه السلام فقال مرحبًا بالنبي الصالحِ
والابنِ الصالحِ قَالَ قلتُ مَنْ هذا قَالَ هذا
إبراهيمُ قَالَ ابنُ شهابٍ وأخبرني ابنُ حزمٍ أَنَّ
ابنَ عباسٍ وأبا حبّةَ الأنصاريَّ كانا يقولانِ قَالَ
رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ثُمَّ عرجَ بي حتّى
ظهرتُ لِمُستوى أسمعُ فيه صريفَ الأقلامِ
قَالَ ابنُ حزمٍ وأنسُ بنُ مالكٍ قَالَ رسولُ اللهِ
صلى الله عليه وسلم ففرضَ اللهُ على أمتي
خمسين صلاةً قَالَ فرجعتُ بذلك حتّى أمرَّ
بموسى فقال موسى عليه السلام ماذا فرضَ
ربُّك على أمتك قَالَ قلتُ فرضَ عليهم
خمسين صلاةً قَالَ لي موسى عليه السلام
فراجع ربَّك فإنَّ أمتك لا تطيقُ ذلك قَالَ
فراجعتُ ربي فوضعَ شطرها قَالَ فرجعتُ إلى
موسى عليه السلام فأخبرتُه قَالَ راجع ربَّك فإنَّ
أمتك لا تطيقُ ذلك قَالَ فراجعتُ ربي فقال
هي خمسٌ وهي خمسون لا يُبدَّلُ القولُ
لديَّ قَالَ فرجعتُ إلى موسى فقال راجع ربَّك
فقلتُ قد استحييتُ من ربي قَالَ ثُمَّ انطلقَ بي
جبريلُ حتى نأتي سدرةَ المنتهى فغشيها ألوانٌ
لا أدري ما هي قَالَ ثُمَّ أُدخلتُ الجنةَ فإذا فيها
جنابذُ اللؤلؤ وإذا ترابها المسكُ

ځوک؟ هغوی اووے دا د مریم ځوئ عیسی دے بیا زهٔ د
حضرت ابراهیمؑ په خواه باندے تیر شوم هغوی اووے مرحبا اے
نبی صالح او ځویه صالح ما تپوس اوکړو دا ځوک دے؟ هغوی
اووے دا حضرت ابراهیمؑ دے ابن شهاب ویلی دی ماته ابن حزم
بیان کړے دے چه ابن عباس ابوحیه انصاریؓ (عامر، یامالک یا
ثابت)دواړو ویلی وو چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی بیا زهٔ او خیژولے
شوم په یو هوار اوچت مقام باندے هلته ما اوریدو د قلمونو آواز.
ابن حزم او انس بن مالکؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی
دی بیا الله خما په امت باندے پنځوس مونځونه فرض کړل زهٔ چه
واپس هر کله د موسیٰؑ خواته رااورسیدم نوهغه خما نه تپوس
اوکړو. الله پاک څهٔ فرض کړل ستا په امت باندے؟ ما اووے
پنځوس مونځونهٔ په هغوی باندے فرض کړل موسیٰؑ اووے تهٔ
بیا واپس لاړ شه د خپل رب خواله ولے چه ستا په امت کښ دومره
قدرے طاقت نشته دے. زهٔ واپس شوم خپل پروردګار لهٔ هغه یوه
حصه مونځ معاف کړو. او واپس بیا موسیٰؑ له راغلم او هغوی ته م
بیان اوکړو. هغوی اووے واپس لاړ شه پروردګار ته ولے چه ستا د
امت دومره طاقت نشته. زهٔ پروردګار ته واپس لاړمه هغهٔ راته
اوفرمایل پنځهٔ مونځونه دی او هغه د پنځوسو برابر دی (په ثواب
کښ) ما دلته خبره بدله نهٔ کړه. حضرت ﷺ فرمائی بیا زهٔ موسیٰؑ له
واپس راغلم. هغوی اووے بیا لاړ شه پروردګار لره. ما اووے ماله
شرم راځی د خپل پروردګار نهٔ (په بار بار عرض کولو سره) بیا زهٔ د
جبرائیلؑ سره سدرة المنتهیٰ ته لاړم په هغے باندے داسے رنګ
ختلے وو چه هغه ما نهٔ پیژندو چه هغه څهٔ وو. بیائے زهٔ جنت ته بوتلم

هلته د لعلونو گنبد وو او خاوره د هغې مُشک وو [1]

[1] دا سينه څيرل او زړه وينځل او صفا کول څه خلاف قياس نه دی نه محال دی د خداوند کريم د قدرت نه دا امر بالکل بعيد نه دے بلکه په موجوده زمانه کښې پخپله انسان په جراحت کښې دا ... رقی کړے ده چه په وړاندے زمانه کښې خلقو دے لره خلاف قياس گڼلو او په طشت کښې د ايمان او حکمت ډکولو دا معنی ... چه ده طشت څه دداسے خيز نه ډک وو چه هغه په زړه کښې د اچولو سره زړه زړا شو او ډک شو د ايمان او حکمت نه دا تاويل نووی کړے دے او خما په نز د تاويل ضرورت نشته دے ولے چه د مه طشت ... جنت وو او د جنت په طشت کښې ايمان او حکمت ډکيدل څه بعيد نه دی خکه چه جنت د عالم آخرت نه دے او د عالم آخرت احکام نور دی هلته ډير داسے خيزونه دی چه هغې لره مونږ دلته جسمانی او موجود بالذات خيال نه کوو جسمانی او موجود بالذات وی ددغې قبيلے نه دی د اعمالو تول کول د مرگ ذبحه کول، د قرآن د سورتونو شفاعت کول والله اعلم قاضی عياض ويلی دی په دے مقام باندے دا اشکال کيږی چه د کافرانو روحونه خو په سجّين کښې اوسيږی چه هغه په اوومه زمکه کښې دے يا د هغې نه دلاندے دے يا په قيد کښې وی او د مؤمنانو روحونه په جنت کښې آرام مومی بيا دا روحونه آدمؑ سره د هغوی د روحونو د پيش کيدلو يو وخت وی او رسول الله په اتفاق سره په دغه وخت هلته رسيدلے وی او د هغوی روحونو لره نے ليدلی وی او د احتمال دے چه د کافرو ارواح په جهنم کښې او د مؤمنانو روحونه په جنت کښې هميشه پاتے کيدل نه وی بلکه خاص په يو وخت کښې به وی لکه چه په قرآن کښې دی چه هغه سحر او مابنام د جهنم مخے ته کوی او په حديث کښې دی چه د مومن مخے ته د هغه د اوسيدو ځاے په قبر کښې پيش کولے شی او هغه ته به ويلے شی چه دا ستا هميشه د اوسيدو خانے دے تر دے پورے چه الله تعالی به تا دے خانے ته رسوی او دا هم احتمال دے چه جنت د آدم نبی طرفته وی او جهنم نے گس طرفته وی والله اعلم امام نوویؒ ويلی دی په دے روايت کښې کوم چه د ابراهيم عليه السلام په شپږم آسمان باندے مذکور دے خو که چرے معراج دوباره شوے وی په دے صورت کښې څه اشکال نشته خکه چه يو خل په شپږم اسمان باندے ملاو شوے وی او بيا اووم اسمان ته د هغه سره تلے وی والله اعلم او آواز کوم چه د فرښتو د ليکلو نه وتلو او دا ليکل د فرښتو يا خو د الله د احکامو او د وحی وو يا هغه د لوح محفوظ نه نقل کولو قاضی عياض وائی دا دليل دے د اهل سنتو د مذهب چه وحی او مقادير تول د الله تعالی په کتاب لوح محفوظ کښې ليکلے کيږی په قلمونو سره او هغه پرے پوهه دے په هغه کيفيت چه هغه په آيتونو او حاديث صحيحه کښې ورارد دی او هغه په خپل ظاهر باندے محمول دی خو ددے په کيفيت او صورت او جنس خدائے پاک ښهٔ پوهه دے يا هغه سړے پر پوهيږی چه هغه ته نے خدائے پاک اوښائی د خپلو فرښتو او پيغمبرانو نه او کوم خلق چه ددے قوم آيتونو يا احاديثو تاويلو نه کوی او په ظاهر سره هغې له تاووی هغه ضعيف النظر دی او ضعيف الايمان خکه چه هر کله په شريعت مقدسه کښې دا امور وارد دی او عقلاً محال نه دی نو په هغې کښې د تاويل څه ضرورت دے او الله تعالی کوی هغه څه چه غواړی او حکم کوی د هغه څه چه غواړی او دا ليکل يو حکمت الهی دے چه په هغې سره هغه د غيبو خبرے خپلو بنديگانو ته ښودل غواړی گنی هغه خو پخپله بے پرواه دے د کتابونو نه او هغه ته د ياد ساتلو دپاره د ليکلو ضرورت نشته قاضی عياض ويلی دی زمونږ د پيغمبر ﷺ ددے خانے پورے تلل او د تولو پيغمبرانو د مقاماتو نه د مخکښې تلو دا دليل دے زمونږ د پيغمبر ﷺ د فضيلت په نورو پيغمبرانو باندے او بزار په يو روايت کښې د حضرت علیؓ نه د معراج بيان کړے دے په هغې روايت کښې دی چه جبرائيل د هغهٔ سره تلو تر دے پورے چه د پردے خواته اورسيدل د هغه خائے نه يوه فرښته راووته جبرائيل اووے قسم دے په هغه ذات چا چه ته رښتونے پيغمبر کړے نے او راليږلے نے زهٔ چه د کوم وخت نه پيدا شوے يم ما دا فرښته نه ده ليدلے حالانکه زهٔ د تول مخلوق کښې خدائے پاک ته زيات بزرگ يم او په دويم روايت کښې دی چه بيا جبرائيل خما نه جدا شولو او آواز ونه تول موقوف شول ختم شو کلام د قاضی عياض په حديث کښې د شطر لفظ وارد دے چه د هغې معنی د نصف

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ لَعَلَّهُ قَالَ عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَجُلٍ مِنْ قَوْمِهِ قَالَ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ الْبَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ وَالْيَقْظَانِ إِذْ سَمِعْتُ قَائِلًا يَقُولُ أَحَدُ الثَّلَاثَةِ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ فَأُتِيتُ فَانْطُلِقَ بِي فَأُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ فِيهَا مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ فَشُرِحَ صَدْرِي إِلَى كَذَا وَكَذَا قَالَ قَتَادَةُ فَقُلْتُ لِلَّذِي مَعِي مَا يَعْنِي قَالَ إِلَى أَسْفَلِ بَطْنِهِ فَاسْتُخْرِجَ قَلْبِي فَغُسِلَ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ أُعِيدَ مَكَانَهُ ثُمَّ حُشِيَ إِيمَانًا وَحِكْمَةً ثُمَّ أُتِيتُ بِدَابَّةٍ أَبْيَضَ يُقَالُ لَهُ الْبُرَاقُ فَوْقَ الْحِمَارِ وَدُونَ الْبَغْلِ يَقَعُ خَطْوُهُ عِنْدَ أَقْصَى طَرْفِهِ فَحُمِلْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ انْطَلَقْنَا حَتَّى أَتَيْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ

د انس بن مالک نه روایت دے هغوی کیدے شی چه اوریدلی وی د مالک بن صعصعه نه چه هغه یو سړے وو د هغوی د قوم نه چه فرمایلی دی رسول الله ﷺ زهٔ د خانه کعبې سره وم او ښما حالت د خوب او د بیداره په مینځ کښې وو په دے کښې ما واوریدل د یو ویونکی نه چه ویل ئې په مونږ دوارو کښې دریم[1] دا دے. (یعنی رسول الله) بیا ښما خواله راغلل او زهٔ ئې بوتلم بیا ماله یو طشت راوړے شو د سروزرو او په هغې کښې اوبهٔ وے د زمزم او ښما سینه ئې او اوڅیرله ددے پورے او ددے پورے قتاده وائی کوم چه ددے حدیث راوی ما د خپل ملګری نه تپوس اوکړو ددے نه څهٔ مراد دے. هغوی اووے یعنی اوئې څیرله سینه د لاندے ګیډے پورے. او زړهٔ را اوویستو د هغې نه او بیائې د زمزم په اوبو باندے اووینځلو او بیائې په خپل ځائې باندے کینبودو او په خپل ځائې ئې بیا ډک کړو د ایمان او حکمت نه بیائې یو ځناور راوستو چه د هغه رنګ سپین وو هغې ته به ئې براق ویلو د خر نه دنګ او د قچر نه ورکوټے وو او خپل قدم به ئې هغه ځائې ایخودو چرته چه به د هغهٔ نظر رسیدلو. زهٔ ئې په هغې باندے سور کړم بیا مونږ روان شو تردے چه د اول اسمان دروازے له راغلو.

ده پنځویشت مونځونه ئې معاف کړل په دے صورت کښې په دا مخالف نهٔ وی د وړمبی روایت چه په هغې کښې د پنځهٔ پنځهٔ مونځونو معاف کیدل ذکر دی ولې ئه د شطر د معاف کیدو نه دا غرض نه دے چه په یو وار کښې شطر معاف شو بلکه په څو واره کښې معاف شوی وو او قاضی عیاض ویلی دی چه د شطر نه یو حصه مراد ده. یعنی پنځهٔ مونځونه او نیمه تړ مراد نهٔ ده اودا هم کیدے شی خو ددے ضرورت نشته ولې چه حدیث مختصر دے. په دے کښې ئې د څو خله واپس کیدو بیان نهٔ دے کړے. والله اعلم

[1] قوله احد الثلاثة الخ رجلین نه مراد جبرائیل او میکائیل دی. او د ثالث نه رسول ﷺ مراد دے. یو سړے د دا خیال نهٔ کوی چه دا حدیث د پورته حدیث نه معارض دے. ولې چه په دے کښې مخکښې د نزول وحی ذکر دے. او په هغې کښې بعد د نزول وحی. لیکن په غور د لیدو سره ثابتیږی چه په دے روایت کښې شریک (یو راوی دے ددے حدیث) دوه خایه غلطی کړے ده. (۱) دا چه معراج د نزول وحی نه شوے دے او دهٔ د وړاندے د وحی نه ذکر کړے دے. (۲) دا چه حضرت ته دوه سړی (فرښتے) راغلے وے. او هغه درے سړی بیان کړی دی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَفَتَحَ لَنَا وَقَالَ مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ قَالَ فَأَتَيْنَا عَلَى آدَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَذَكَرَ أَنَّهُ لَقِيَ فِي السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ عِيسَى وَيَحْيَى عَلَيْهِمَا السَّلَام وَفِي الثَّالِثَةِ يُوسُفَ وَفِي الرَّابِعَةِ إِدْرِيسَ وَفِي الْخَامِسَةِ هَارُونَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ قَالَ ثُمَّ انْطَلَقْنَا حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ فَأَتَيْتُ عَلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ فَلَمَّا جَاوَزْتُهُ بَكَى فَنُودِيَ مَا يُبْكِيكَ قَالَ رَبِّ هَذَا غُلَامٌ بَعَثْتَهُ بَعْدِي يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِهِ الْجَنَّةَ أَكْثَرُ مِمَّا يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِي قَالَ ثُمَّ انْطَلَقْنَا حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَأَتَيْتُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ وَحَدَّثَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ رَأَى أَرْبَعَةَ أَنْهَارٍ يَخْرُجُ مِنْ أَصْلِهَا نَهْرَانِ ظَاهِرَانِ وَنَهْرَانِ بَاطِنَانِ فَقُلْتُ يَا جِبْرِيلُ مَا هَذِهِ الْأَنْهَارُ قَالَ أَمَّا النَّهْرَانِ الْبَاطِنَانِ فَنَهْرَانِ فِي الْجَنَّةِ وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ فَالنِّيلُ وَالْفُرَاتُ ثُمَّ رُفِعَ لِي الْبَيْتُ الْمَعْمُورُ فَقُلْتُ يَا جِبْرِيلُ مَا هَذَا قَالَ هَذَا الْبَيْتُ الْمَعْمُورُ يَدْخُلُهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ

جبرائیلؑ د دروازے لرے کولو اووے فرښتو تپوس اوکړو څوک دے. هغۀ اووے جبرائیل دے هغوی اووے ستاسره څوک دے جبرائیل اووے محمد ﷺ دے. هغوی اووے ولے هغه غوښتلے شوے دے؟ جبرائیلؑ اووے آو. بیائے دروازه بیرته کړه فرښتو اووے مرحبا مبارک دِ وی ستا تشریف راوړل بیا مونږ راغلو آدم لۀ او بیان ئے کړه د حدیث پوره قصه او ذکرئے اوکړو چه هغه په دویم اسمان باندے ملاقات کړے د عیسیٰؑ سره او د یحییٰؑ سره او په دریم اسمان باندے د یوسفؑ سره او په څلورم اسمان باندے د ادریسؑ سره او په پنځم اسمان باندے د هارونؑ سره. بیائے اووے چه مونږ لاړو ترد ے چه شپږم اسمان ته اورسیدو. هلته د حضرت موسیٰؑ سره ملاؤ شو. هغۀ ته ما سلام اوکړو. هغوی اووے مرحبا نیک رور او نیک نبی تۀ هر کله راشے چه زۀ لږ مخکښې لاړم نو هغه په ژړا شو آواز راغے چه اے موسیٰ ولے ژاړے؟ هغۀ اووے. اے پروردګاره! تا دا هلک ځمانه پس پیغمبر کړو. او ددۀ د امت نه به زیات خلق جنت ته ځی ځما د امت نه نو حضرت موسیٰؑ خفه شو په خپل قوم باندے حالانکه د هغوی تعداد ډیر وو. خو جنتیان په هغوی کښې کم وو زمونږ د پیغمبرؐ د امت نه بیا حضرتؐ فرمائی چه مونږ لاړو ترد ے چه اووم اسمان ته اورسیدو. هلته ما ابراهیمؑ اولیدو. او بیان ئے کړو په دے حدیث کښې چه رسول الله ﷺ فرمائیل دی. ما څلور نهرونه اولیدل چه د سدرة المنتهیٰ د ویخ نه وتلی وو. دوه نهرونه کهولاؤ وو او دوه نهرونه بند و. ما اووے اے جبرائیل! دا نهرونه څنګه دی؟ هغوی اووے دا دوه پټ شوی نهرونه خو جنت ته تلی دی او دا ښکاره دوه نهرونه خو نیل او فرات دی بیا اوچت کړے شو ځما د پاره بیت المعمور ما ووے اے جبرائیل! دا څۀ

إِذَا خَرَجُوا مِنْهُ لَمْ يَعُودُوا فِيهِ آخِرَ مَا عَلَيْهِمْ ثُمَّ أُتِيتُ بِإِنَاءَيْنِ أَحَدُهُمَا خَمْرٌ وَالْآخَرُ لَبَنٌ فَعُرِضَا عَلَيَّ فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ فَقِيلَ أَصَبْتَ أَصَابَ اللهُ بِكَ أُمَّتُكَ عَلَى الْفِطْرَةِ ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسُونَ صَلَاةً ثُمَّ ذَكَرَ قِصَّتَهَا إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ

دی؟ هغوی اووی دا بیت المعمور دے. دے ته هره ورځ اویازره فرښتے راځی. چه هغه بیا چرته دے ته نۀ راځی. پس دغه د هغوی آخری راتلل وی بیا ماته دوه لوښی راوړے شول په یو کښې شراب وو. او په بل کښې پئ دواړه ما ته پیش کړے شول ما پیو لره غوره کړل آواز راغے تا ښۀ اوکړل خدائے تۀ په ښۀ لاره باندے راوستلے او ستا امت به هم ستا په لاره باندے چلیږی بیا په ما باندے هره ورځ پنځۀ مونځونه فرض شول بیائے بیان کړه تو له قصه د آخره پورے[1].

عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَزَادَ فِيهِ فَأُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَشُقَّ مِنَ النَّحْرِ إِلَى مَرَاقِ الْبَطْنِ فَغُسِلَ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ مُلِئَ حِكْمَةً وَإِيمَانًا

د مالک بن صعصعة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دغه حدیث چه پورته ذکر شو. دومره زیات دے چه ما ته د سروزرو یو طشت راوړے شو چه هغه ډک وو د حکمت او د ایمان نه بیائے اوخیرله ځما سینے لره د لاندے ګیډے پورے. او اوئے وینځله د زمزم په اوبو باندے. او بیائے ډکه کړه د حکمت او ایمان نه.

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْعَالِيَةِ يَقُولُ حَدَّثَنِي ابْنُ عَمِّ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أُسْرِيَ بِهِ فَقَالَ مُوسَى آدَمُ طُوَالٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ

د قتاده نه روایت دے ما د ابو العالیه نه اوریدلی چه ویلی ئے وو ما ته حدیث بیان کړے ستاسو د پیغمبر د تره ځوئ یعنی عبدا لله بن عباس چه رسول الله ﷺ ذکر کولو د معراج نو اوئے فرمائیل چه موسی (غنم رنګے) یو دنګ سړے ووو. لکه د شنوه (شنوه یوه قبیله ده په عربو کښې) د سړو. او عیسی ګرګوتے ویختو والا

[1] نیل د افریقے په ملک کښې یو دریاب دے چه د هغے او ږدوالے درے زره میلوته نږدے. او د مصر پائے تخت " قاهره " دد ے دریاب په غاړه واقع دے د مصر د ملک شادابی او سر سبزی ددغه دریاب نه ده هر کله چه دغه دریاب جوش یعنی موج اوهی او رااوخیژی اوبۀ د هغے پورته نو ټول ملک سیراب شی او فرات هغه دریاب دے کوم چه په عراق عرب کښې واقع دے د کوفے ښهر چه نن صبا بالکل وران شوے دے. ددغے دریاب په غاړه آباد وو او د کربلا واقعه ددغه دریاب په غاړه واقع شوے وه. دد ے اُوبه زیاتے خوږے او صفا او هضمونکی دی. قاضی عیاض وائی دد ے حدیث نه معلومیږی چه د سدرة المنتهٰی زیله په زمکه کښې ده ولے چه نیل او فرات دد ے د زیلو نه وتلی دی. نووی وائی دا څۀ ضروری نۀ ده. څکه احتمال دے چه د سدرة المنتهٰی د زیلو نه دا دواړه دریابونه وتلی وی بیائے روان کړی دی د کوم ځائے پورے چه الله پاک غوښته. او په زمکه ښکاره شوی وی اودا امر نۀ خلاف شرع او نۀ خلاف عقل دے او د ظاهر حدیث نه هم دغه معلومیږی نو دد ے طرفته تلل پکار دی

وَقَالَ عِيسَى جَعْدٌ مَرْبُوعٌ وَذَكَرَ مَالِكًا خَازِنَ جَهَنَّمَ وَذَكَرَ الدَّجَّالَ

درمیانه قد وو. او بیان ئے کوو د مالک چه داروغه دے د جهنم. او ذکر ئے کوو د دجال.

عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ حَدَّثَنَا ابْنُ عَمِّ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي عَلَى مُوسَى بْنِ عِمْرَانَ عَلَيْهِ السَّلَام رَجُلٌ آدَمُ طُوَالٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ مَرْبُوعَ الْخَلْقِ إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ سَبِطَ الرَّأْسِ وَأُرِيَ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ وَالدَّجَّالَ فِي آيَاتٍ أَرَاهُنَّ اللهُ إِيَّاهُ فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ قَالَ كَانَ قَتَادَةُ يُفَسِّرُهَا أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ لَقِيَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام

د قتاده نه روایت دے هغه اوریدلی د ابو العالیه نه. هغوی وائی حدیث بیان کړے دے مونږ ته ستاسو د نبی ؐ د ترۀ خوی حضرت ابن عباس ؓ چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. په کومه شپه چه خما معراج اوشو. زۀ په موسیٰ ؑ بن عمران باندے تیر شوم هغه یو غنم رنګے دنګ سړے وو. ګُرګُوتو ویختو والا لکه د شنو سړی چه وی او ما اولیدو عیسیٰ ابن مریم ؑ لره هغه میانه قد وو او رنګ د هغهٔ سور او سپین وو. او د سر ویخته ئے چرته سیدها وو. او خودلے شوے وو هغهٔ ته مالک د جهنم داروغه او د جلا په هغه نخښو کښں کومے چه الله پاک ښودلی دی. نو شک مهٔ کوه د هغه په ملاقات کښں د موسیٰ ؑ سره. راوی وائی چه قتاده دد ے ایت داسے تفسیر کوی چه نبی ﷺ د حضرت موسیٰ ؑ سره ملاقات کړے وو[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِوَادِي الْأَزْرَقِ فَقَالَ أَيُّ وَادٍ

د عبد الله بن عباس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په وادی ازرق تیریدو نو تپوس ئے اوکړو دا کومه وادی ده؟ خلقو اووے وادی ازرق

---

[1] د سبط معنی نیغ او صفا چه هغے کښں کوږوالے نهٔ وی او په پورته روایت کښں دی چه د هغهٔ ویخته ګورګوتی وو نو جواب دادے چه ګورګوتی په ده قسمه دی یو خو سخت ګورګوتی لکه چه د حبشیانو ویخته وی هغے ته په عربئ کښں قطط وائی او یو نرم ګورګوتی چه هغه سیدها او صفا وی او صرف په سُوکو کښں لږشان کاږهٔ وی دغسے ویختو ته سبط ویلے کیږی او بعضو ویلی دی چه په وړمبی حدیث کښں د جعد د لفظ نه ګورګوتی ویختهٔ مرا نهٔ دی بلکه جعودت د جسم سره مشتق دے یعنی د بدن د رنیدل او سخت کیدل او کلک کیدل. او دلیل دد ے دادے. چه د حضرت موسیٰ په صفت کښں په یو روایت کښں د جعد لفظ راغلے دے. حالانکه په دویم روایت کښں دی چه د هغهٔ ویخته نیغ او صفا وو. دا استشهاد دے د آیة کریمه فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ نه چه دد ے تفسیر قتاده دغه کړے دے چه بیشکه د موسیٰ علیه السلام سره حضرت ﷺ ملاو شوے دے او دا اختصار کړے دے یو جماعت لکه مجاهد او کلبی او سُدّی وغیره نو دد ے ایت معنی به ددوی په مذهب باندے دادی چه شک مهٔ کوه تهٔ په خل ملاقات کښں د موسیٰ سره او د جمهور علماؤ په نزد دآیت دا معنی ده چه شک مهٔ کوه موسیٰ ته د کتاب په ملاویدو کښں او دا مذهب د ابن عباس او مقاتل او د زُجاج دا ایت سورۀ الم تنزیل السجده په سپاره یویشتمه کښں دے او شروع دد ے ایت داده وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ د اخره پورے

هٰذَا فَقَالُوا هٰذَا وَادِي الْأَزْرَقِ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام هَابِطًا مِنَ الثَّنِيَّةِ وَلَهُ جُؤَارٌ إِلَى اللهِ بِالتَّلْبِيَةِ ثُمَّ أَتَى عَلَى ثَنِيَّةِ هَرْشَى فَقَالَ أَيُّ ثَنِيَّةٍ هٰذِهِ قَالُوا ثَنِيَّةُ هَرْشَى قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى يُونُسَ بْنِ مَتَّى عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى نَاقَةٍ حَمْرَاءَ جَعْدَةٍ عَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ خِطَامُ نَاقَتِهِ خُلْبَةٌ وَهُوَ يُلَبِّي قَالَ ابْنُ حَنْبَلٍ فِي حَدِيثِهِ قَالَ هُشَيْمٌ يَعْنِي لِيفًا

حضرت ﷺ اوفرمائيل لكه چه زهٔ موسیٰ لره وينم هغه راكوزيږی د غر نه او په آواز سره د لبّيک چغے وهی. بيا هغه د هرشا په غونډئ (ټيكرئ) باندے راغے (هرشا د يو غر نوم دے د شام او د مدينے په لاره باندی جحفے ته نږدے) هغه تپوس اوكړو دا كومه غونډئ ده. خلقو اووے دا د هرشا غونډي ده حضرت ﷺ اوفرمايل لكه چه زهٔ وينم يونس بن متیٰ لره هغه په يوے سرے بارداره اوښه باندے سُور وو او د وړئ يوه جبّه ئے اغوستے ده. د هغهٔ د اوښے واګے د كجهورے دَرَسئ دی او هغه لبيک وائی. ابن حنبل په خپل حديث كښ بيان كړے دے. چه هشيم وائی د خلبه نه مراد ليف دے. (يعنی د كجورے د اونړے پټه)[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَمَرَرْنَا بِوَادٍ فَقَالَ أَيُّ وَادٍ هٰذَا فَقَالُوا وَادِي

د عبد الله بن عباس نه روايت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره روان وو د مكے او مدينے په مينځ كښ په يو وادئ باندے تيريدو. حضرت ﷺ تپوس اوكړو دا كومه وادی ده. خلقو اووے "وادی ازرق"

---

[1] قاضی عياض ويلی دی د اكثرو روايتونو نه معلوميږی چه رسول الله ﷺ دغه پيغمبرانو لره د معراج په شپه ليدلی دی او دا امر د تصريح سره د ابوالعاليه په روايت كښ د ابن عباس رضی الله عنه نه موجود دے. او د ابن مسيب په روايت كښ د ابو هريره نه مګر په هغے كښ د لبيک وولو ذكر نشته دے. اوس كهٔ چرے څوک وائی چه دا پيغمبر خو مړ شو او آخرت ته لاړو. اوس لبيک څنګه وائی او حج څنګه كوی هغه خو د عمل كولو مقام نه دے. نو زمونږه شيخانو او مونږه دد ے څو جوابونه ويستلی دی. يو خو دا خه شهيدان دپيغمبرانو په شان دی بلكه د هغوی نه هم غوره دی او شهيد ژوندے دے د خپل پروردګار سره نو ولے لرے ده يعنی ګرانه ده چه هغه حج اوكړی يا موخ اوكړی. لكه چه په بل حديث كښ وارد دی او د كومے پورے چه د هغوی نه كيږی د خدائے نه نور نږديكت حاصلوی او لكه چه هغه مړهٔ شوی دی خو تر اوسه پورے په دنيا كښ دی. چه د عمل مقام دے البته هر كله چه قيامت شی او ددنيا ميعاد ختم شی په هغه وخت به عمل ختم شی دويمه دا چه د اخرت عمل ذكر او دُعا ده. الله تعالی فرمايلی دی دَعْوٰهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ دريمه دا چه دا خوب وی كيدے شی په بله شپه كښ د معراج د شپے نه سوا لكه چه د ابن عمر رضی الله عنه په روايت كښ دی زهٔ اودهٔ وم چه ما خپل خان د كعبے په طواف كولو اوليدو او بيان ئے كړه قصه د عيسیٰ عليه السلام څلورمه دا چه رسول الله ﷺ ته ئے د هغه پيغمبرانو د زندګئ حال او ښودلے شو په طور د تمثيل چه د هغوی حج څنګه وو او لبيک ئے څنګه و خكه پخپله هغه او فرمايل چه ګويا يعنی لكه چه زهٔ وينمه موسیٰ عليه السلام لره اولكه چه وينم عيسیٰ عليه السلام لره او لكه چه وينم يونس عليه السلام لره پنځم دا چه هغه بيان كړه هغے خبرے لره چه هغه وحی شوی وی هغه ته د هغه پيغمبرانو د كيفيت او حالت نه اګر چه هغه په خپلو سترګو سره هغه نهٔ وی ليدلی ختم شو كلام د قاضی عياض (نووی رحمه الله)

الْأَزْرَقِ فَقَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مِنْ لَوْنِهِ وَشَعْرِهِ شَيْئًا لَمْ يَحْفَظْهُ دَاوُدُ وَاضِعًا إِصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ لَهُ جُؤَارٌ إِلَى اللهِ بِالتَّلْبِيَةِ مَارًّا بِهَذَا الْوَادِي قَالَ ثُمَّ سِرْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى ثَنِيَّةٍ فَقَالَ أَيُّ ثَنِيَّةٍ هَذِهِ قَالُوا هَرْشَى أَوْ لِفْتٌ فَقَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى يُونُسَ عَلَى نَاقَةٍ حَمْرَاءَ عَلَيْهِ جُبَّةٌ صُوفٍ خِطَامُ نَاقَتِهِ لِيفٌ خُلْبَةٌ مَارًّا بِهَذَا الْوَادِي مُلَبِّيًا

عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فَذَكَرُوا الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنَّهُ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ قَالَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَمْ أَسْمَعْهُ قَالَ ذَاكَ وَلَكِنَّهُ قَالَ أَمَّا إِبْرَاهِيمُ فَانْظُرُوا إِلَى صَاحِبِكُمْ وَأَمَّا مُوسَى فَرَجُلٌ آدَمُ جَعْدٌ عَلَى جَمَلٍ أَحْمَرَ مَخْطُومٍ بِخُلْبَةٍ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ إِذَا انْحَدَرَ فِي الْوَادِي يُلَبِّي

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَ عَلَيَّ الْأَنْبِيَاءُ فَإِذَا مُوسَى ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَام فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ

هغه اوفرمائیل لکه چه زهٔ وینم موسیٰ ؑ ته بیائے بیان کړو د هغهٔ د رنګ او د ویختو حال چه هغه یاد وو داؤد بن ابی هند ته (چه هغه راوی دے دے حدیث) اوګوتے ئے په غوږونو کښې ایخی دی او خدائے ته چغے وحی په آواز سره لبیک وائی. او په دے وادئ کښې روان دی. عبد الله وائی بیا مونږ روان وو تردے چه په یوے غونډئ باندے راغلو حضرت ؑ اوفرمائیل دا کومه یو غونډئ ده. خلقو اووے دا د هرشا یا د لیف حضرت ﷺ اوفرمائیل لکه چه زهٔ وینم یونس ته په یوه سره اوښه باندے یوه جبّه د وړئ اغوستلے او د هغه د اُوښے د واګو رسئ د کجورے د پټ ده په دے وادئ کښې په لبیک ویلو سره روان دی.

د مجاهد نه روایت دے. چه مونږ د عبد الله بن عباس سره ناست وو. خلقو ذکر اوکړو د دجال او اووے ویل چه د هغهٔ به د دواړو سترګو په مینځ کښې د کافر لفظ لیکلے وی ابن عباس ؓ وائی دا خو ما نهٔ دی اوریدلی لیکن حضرت ﷺ اوفرمایل: ابراهیم خو داسے دے لکه چه تاسو خپل ملګری ته ګورئ (یعنی ځما په شان دے په شکل کښې) او موسیٰ یو سړے دے غنم رنګے ګورګوتی وویختو والا یاد سخت بدن والا په سور اوښ باندے سُور دے. چه د هغهٔ واګے د کجورے د پوستکی دی لکه چه زهٔ هغوی ته ګورم. هر کله چه راکوزیږی په وادئ کښې نو لبّیک وائی.

د جابر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. ما ته مخکښې راوستے شول پیغمبران ؑ نو موسیٰ ؑ درمیانه قدوقامت والا سړے وو (یعنی نهٔ ډیر سورب نهٔ ډیر خوار غونډ بدن ئے وو یا کم بدن کم ګوشت) لکه د شنوءه (یوه قبیله ده) خلق چه وی. او ما اولیدو عیسیٰ ابن مریم ؑ له زهٔ د ټولو نه زیات د هغهٔ مشابه غروه بن مسعود ؓ له مومَم ما اولیدو ابراهیم ؑ له د ټولو نه زیات د هغهٔ مشابه ستاسو

Maktaba Tul Ishaat.com

شَبَهًا صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دَحْيَةُ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ رُمْحٍ دَحْيَةُ بْنُ خَلِيفَةَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أُسْرِيَ بِي لَقِيتُ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ فَنَعَتَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَجُلٌ حَسِبْتُهُ قَالَ مُضْطَرِبٌ رَجِلُ الرَّأْسِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ قَالَ وَلَقِيتُ عِيسَى فَنَعَتَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَبْعَةٌ أَحْمَرُ كَأَنَّمَا خَرَجَ مِنْ دِيمَاسٍ يَعْنِي حَمَّامًا قَالَ وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ وَأَنَا أَشْبَهُ وَلَدِهِ بِهِ قَالَ فَأُتِيتُ بِإِنَاءَيْنِ فِي أَحَدِهِمَا لَبَنٌ وَفِي الْآخَرِ خَمْرٌ فَقِيلَ لِي خُذْ أَيَّهُمَا شِئْتَ فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَشَرِبْتُهُ فَقَالَ هُدِيتَ الْفِطْرَةَ أَوْ أَصَبْتَ الْفِطْرَةَ أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ

ملګرے دے. (یعنی هغه خپل ځان ته اوفرمائیل) او ما اولیدو جبرائیل ؑ لره (د بنیادم په صورت کښې) د ټولو نه زیات مشابه د هغه دحیه دے. او د ابن رمح په روایت کښې دی دحیه بن خلیفه

د ابوهریره ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هر کله چه هغهٔ ته معراج اوشو. چه زهٔ د موسیٰ ؑ سره ملاؤ شوم بیا هغهٔ د هغهٔ ؑ صورت بیان کړو چه ځما خیال دے هغه داسے فرمائیلی وو (دا شک دے راوی ته) هغه دنګ نرے وو اوږدو ویښتو والا لکه څنګه چه د شنوه خلق وی. اوفرمائیلی ئے وو. چه زهٔ د عیسیٰ ؑ سره ملاؤ شوم. بیا حضرت ؑ د هغهٔ صورت بیان کړو. د هغه قدوقامت درمیانه وو. سور رنګ لکه چه اوس څوک د حمام نه رااوځی (یعنی داسے تروتازه او خوش رنګ وو) او هغهٔ فرمائیلی دی چه زهٔ د ابراهیم ؑ سره ملاؤ شوم نو زهٔ د هغهٔ په اولاد کښې د ټولو نه زیات د هغهٔ سره مشابه یم. هغهٔ ؑ اوفرمایل بیا ماته دوه لوښی راوړے شول په یو کښې پئ وو او په بل کښې شراب. او ماته اوویلے شو تهٔ چه کوم غواړے خوښ کړه. ما د پیو لوښے واخستو او پئ مے اوڅکل هغے اووے (یعنی هغه فرښتے چا چه هغه دواړه لوښی راوړی وو) تاته د فطرت لار ملاؤ شوه. یا تهٔ اورسیدے فطرت ته (دے تفسیر پورته تیر شوے دے) او کهٔ چرے تا شرابو لره اختیار کړے وے نو ستا امت به ګمراه شوے وو[1].

[1] په یو روایت کښې په نسبت د موسیٰ ؑ د ضرب لفظ راغلے دے یعنی د غوښے نهٔ ډک (سُورَب) او په دویم روایت کښې د مضطرب یعنی کمے غوښے والا (مانده)، نو به دواړو کښې تعارض شو. قاضی عیاض ویلی دی چه د مضطرب په روایت کښې راوی ته شک دے. نو صحیح دغه د ضرب روایت دے. نووی ؒ وائی تعارض نشته خکه چه د ضرب معنی په لغت کښې د سپکے کمے غوښے هم راغلی ده. دغه شان ابن سکیت او صاحب مجمل او زبیدی او جوهری ویلی دی. او د عیسیٰ په نسبت په دے روایت کښې دی. چه د هغه رنګ سُور وو او د ابن عمر په روایت کښې دی چه هغه غنم رنګے وو. او بخاری رحمه الله د ابن عمر ؓ نه نقل کړی دی چه هغوی د سُور رنګ نه انکار کړے دے او قسم ئے خوړلے چه رسول الله ﷺ د حضرت عیسیٰ سُور رنګ نهٔ دے فرمایلے. او دا د راوی شبه ده. نو شاید چه د احمر د لفظ نه (غنم رنګے) مراد وی. او غنم رنګ یواځے نهٔ وی. بلکه د ګندمی او سُور په مینځ کښې وی. او کوم چه په حدیث کښې دی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرَانِي لَيْلَةً عِنْدَ الْكَعْبَةِ فَرَأَيْتُ رَجُلًا آدَمَ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنْ أُدْمِ الرِّجَالِ لَهُ لِمَّةٌ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنَ اللِّمَمِ قَدْ رَجَّلَهَا فَهِيَ تَقْطُرُ مَاءً مُتَّكِئًا عَلَى رَجُلَيْنِ أَوْ عَلَى عَوَاتِقِ رَجُلَيْنِ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَسَأَلْتُ مَنْ هَذَا فَقِيلَ هَذَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ثُمَّ إِذَا أَنَا بِرَجُلٍ جَعْدٍ قَطَطٍ أَعْوَرِ الْعَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّهَا عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ فَسَأَلْتُ مَنْ هَذَا فَقِيلَ هَذَا الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلی دی ماته یوه شپه اوښودے شول چه زۀ د کعبې سره یم ما یو سړے اولیدۀ غنم رنګے لکه چه تاسو ډیر ښۀ غنم رنګی سړی لیدلی دی د هغه د اُوګو پورے ویخته دی. لکه څنګه چه تاسو ډیر ښۀ د اوګو پورے ویخته لیدلی وی. او په ویختو کښې ئے ګومنز کړے دے د هغے نه اُوبه څڅیږی (یعنی په هغه کښې لوند والے او تازه والے داسے دے. لکه چه په هغه ویختو کښې وی چه هغه د اوبو نه ډک وی یا په حقیقت کښې د هغے نه اُوبه څڅیږی) او تکیه شوے دے په دوو سړو باندے یا د دوو سړو په اوګو باندے او طواف کوی د کعبې نه. ما تپوس اوکړو دا څوک دے. خلقو اووے دا مسیح دے د مریم ځوے. بیا ما یو سړے اولیدو ډیرو ګور ګوتو ویختو والا. چه ښی سترګه ئے خرابه وه لکه د راُوتے دانے د انګور چه نظر په کښې نۀ وو.ما تپوس اوکړو دا څوک دے ؟ خلقو اووے دا مسیح الدّجال دے (خدائے د دهغۀ د شر نه هر مسلمان بچ کی. سره زمونږ. اٰمین[1].

لکه د حمام نه اوس را اووتو. نو دا د یماس د لفظ ترجمه ده. او دیماس دمس نه مشتق دے. چه د هغے معنی ده په خاورو کښې پټول او دلته یا حمام مراد دے یا غار. او مطلب دادے چه د هغه رنګ صورت داسے وو لکه چه اوس یو څیز د دتے نه راویستل شی چه په هغے باندے نمر او ګرد وغبار لګیدلے نۀ وی. او ګمراه به شی. یعنی تول امت لکه یهود او نصرٰی چه تول ګمراه شول اوس د نصرٰاؤ دا حال دے چه په هغوی کښې ډیرے فرقے دی. خو کومه فرقه چه په دغه تولو کښې ښه خیال کولے شی. یعنی احتجاجی هغه هم په حماقت کښې ګرفتار دی او ددین ورمبے اصل یعنی توحید نۀ پیژنی. په مسلمانانو کښې اګر چه ډیرے ګمراه فرقے دی او په زرګونو لکونو په دوی کښې د نصرٰی وو پشان په رښتونی توحید باندے قائم نۀ دی په شرک کښې ګرفتار دی. خو یوه فرقه ددوی په توحید او اتباع سنت کښې زیاته مضبوطه ده. او هغه همیشه قائم دی په حق باندے. اګر چه ددین دشمنان ددغه فرقے دشمنان دی خو خدائے پاک د هغوی مدد ګار دے

[1]. قاضی عیاض وائی کۀ چرے دا قصّه د بیداری ده نو بیا هم څۀ اشکال نشته څکه چه حضرت عیسٰی علیه السلام ژوندے او سلامت دے بیا په طواف کولو کښې څۀ لرے والے دے. او کۀ چرے دا د خوب قصّه ده. لکه چه د ابن عمر ؓ دویم روایت نه چه ملومیږی ده. نو په دے کښې هغه تاویلات دی کوم چه پورته تیر شو. او ظاهر داده چه دا د خوب قصه ده. څکه چه په دے کښې د دجال طواف کول هم ذکر دی. حالانکه په صحیح حدیث کښې وارد دی چه دجال به مکے او مدینے ته نۀ ځی. او د مالک په روایت کښې ددجال

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ذَكَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا بَيْنَ ظَهْرَانَيِ النَّاسِ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَيْسَ بِأَعْوَرَ أَلَا إِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ قَالَ وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَانِي اللَّيْلَةَ فِي الْمَنَامِ عِنْدَ الْكَعْبَةِ فَإِذَا رَجُلٌ آدَمُ كَأَحْسَنِ مَا تَرَى مِنْ أُدْمِ الرِّجَالِ تَضْرِبُ لِمَّتُهُ بَيْنَ مَنْكِبَيْهِ رَجِلُ الشَّعْرِ يَقْطُرُ رَأْسُهُ مَاءً وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْ رَجُلَيْنِ وَهُوَ بَيْنَهُمَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالُوا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَرَأَيْتُ وَرَاءَهُ رَجُلًا جَعْدًا قَطَطًا أَعْوَرَ عَيْنِ الْيُمْنَى كَأَشْبَهِ مَنْ رَأَيْتُ مِنَ النَّاسِ بِابْنِ قَطَنٍ وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْ رَجُلَيْنِ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالُوا هَذَا الْمَسِيحُ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ یوه ورځ د خلقو په مخکښې د مسیح الدجال ذکر اوکړو. نو اوئے فرمایل چه الله جل جلاله کانړے نه دے. او مسیح دجال کانړے دے چه ښیے سترګه د هغهٔ خرابه ده لکه د راوتې انګور (نو دا یوه ښکاره نخښه ده ددے خبرے چه هغه مردود دروغجن دے د خدائیٔ په دعوه کښې) هغه فرمایلی دی. یوه شپه په خوب کښې ما خپل ځان د کعبے په خواه کښې اولیدو یو سړے غنم رنګے لکه دیر ښهٔ څوک غنم رنګے سړے چه د هغهٔ ویښتهٔ اوګو ته رسیدل او ویښتهٔ ئے ګومنځ شوی وو. د سَر نه ئے اوبهٔ څڅیدے او دواړه لاس ئے د دوو سړو په متو ایخی وو طواف ئے کوو دخانه کعبے. ما تپوس اوکړو دا سړے څوک دے. خلقو اووے دا مسیح بن مریم علیهم السلام دے. او دهغهٔ نه شاته ما یو بل سړے اولیدو چه هغه سختو ګورګوتو ویختو والا په ښیے سترګه کانړے وو. ما چه کوم خلق لیدلی دی په هغو تولو کښې ابن قطن د هغهٔ سره زیات مُشابه دے. هغه هم خپل دواړه لاسونه د دوو سړو په اوګو ایخودی وو طواف ئے کوو. ما

د طواف ذکر نشته. او کیدے شی چه حرمت د مکے او مدینے ددجال د هغه زمانے سره خاص وی هر کله چه هغه فساد کوی. او مسیح حضرت عیسیٰؑ هم ویلے شی او دجال ته هم لیکن عیسیٰ ته د مسیح ویلو په وجه کښې ذ عالمانو اختلاف دے. واحدی وائی ابو عبید اولیث ویلی دی چه د مسیح اصل په عبرانئ ژبه کښې مسیحا دے بیا عربو هغے لره بدل کړے مسیح کړے ئے دے. لکه موسیٰ چه اصل د هغے په عبرانئ ژبه کښې مُوشی یا میشا دے په دغه صورت کښې به دا لفظ مشتق نه وی. لیکن د جمهورو په نز مشتق دے. د ابن عباس نه منقول دے. چه هغه ته مسیح خکه ویلے شی چه هر کله به هغه په چا بیمار لاس راښکو نو هغه به جوړیدو. او ابراهیم او ابن اعرابی وائی چه مسیح ویلے شی صدیق ته. او بعضے وائی خکه چه د هغهٔ دواړو تلی برابر او صفا وو په مینځ کښې ژور نهٔ وو. او بعضو ویلی دی خکه چه هغه د خپلے مور د ګیډے نه په تیلو غوړ شوے پیدا شوے وو. او بعضو ویلی دی چه خکه چه برکت په هغهٔ خور کړے شوے وو. هر کله چه هغه پیدا شوے وو. او بعضے وائی خکه چه خدائے پاک په هغهٔ لاس راښکودے وو. یعنی ښکلے ئے پیدا کړے وو او ددے نه سوا نورے وجهے هم بیان کړی دی. او دجال ته مسیح خکه وائی چه د هغهٔ سترګے ورانے شوے دي یا خکه چه هغه کانړه دے. او کانړه ته هم مسیح ویلے شی. یا خکه چه هغ به په توله زمکه چکر لګوی د خپلو راوتو په وخت کښې (نووی)

الدَّجَّالُ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ عِنْدَ الْكَعْبَةِ رَجُلًا آدَمَ سَبْطَ الرَّأْسِ وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى رَجُلَيْنِ يَسْكُبُ رَأْسُهُ أَوْ يَقْطُرُ رَأْسُهُ فَسَأَلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالُوا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ أَوِ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ لَا نَدْرِي أَيَّ ذٰلِكَ قَالَ وَرَأَيْتُ وَرَاءَهُ رَجُلًا أَحْمَرَ جَعْدَ الرَّأْسِ أَعْوَرَ الْعَيْنِ الْيُمْنَى أَشْبَهُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ ابْنُ قَطَنٍ فَسَأَلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالُوا الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا كَذَّبَتْنِي قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ فَجَلَا اللهُ لِي بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَمَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي أَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ فَإِذَا رَجُلٌ آدَمُ سَبْطُ الشَّعْرِ بَيْنَ رَجُلَيْنِ يَنْطِفُ رَأْسُهُ مَاءً أَوْ يُهَرَاقُ رَأْسُهُ مَاءً قُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوا هٰذَا ابْنُ مَرْيَمَ ثُمَّ ذَهَبْتُ أَلْتَفِتُ فَإِذَا رَجُلٌ أَحْمَرُ جَسِيمٌ جَعْدُ الرَّأْسِ أَعْوَرُ الْعَيْنِ كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ قُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوا الدَّجَّالُ أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ

تپوس اوکړو چه دا څوک دے خلقو اوے دا مسیح دجال دے[1]

د عبد الله بن عمر نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلی دی ما د کعبې سره یو سړے اولیدو چه غنم رنگے وو. د هغهٔ ویخته خنکیدلی وو. دواړه لاس ئے د دوو سړو په اوګو باندے ایخی وو او د هغهٔ د سر نه اوبه بهیدلے. ما تپوس اوکړو دا څوک دے خلقو اووے دا عیسیٰ دے د مریم خوے یا ئے دا اووے مسیح دے د مریم خوے. معلومه نهٔ ده چه کوم لفظ ئے ویلے وو بیا د هغهٔ شاته ما یو بل سړے اولیدو سور رنگے ګوڼګوتی ویختو والاپه نښے سترګه ړوند د تولونه زیات مشابه د هغهٔ سره د قطن خوے دے. ما تپوس اوکړو دا څوک دے؟ هغوی اووے دا مسیح دجال دے.

د جابر بن عبد الله نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلی دی هر کله چه د قریشو خلقو ما ته دروغجن اووے نو زهٔ په حطیم کښ ولاړوم الله تعالی بیت المقدس خما ته راوړو. ما د هغے نخښے قریشو ته بیانول شروع کړل او ما لیدهٔ (یعنی بیت المقدس لره)

د عبد الله بن عمر نه روایت دے. ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه زهٔ اودهٔ وم په دے کښ ما خپل ځان اولیدو چه زهٔ طواف کوم د خانه کعبے نه او غنم رنګے یو سړے مے اولیدو چه د هغهٔ ویخته نیغ وو او د سر نه ئے اوبهٔ څڅیدلے یا بهیدلے. ما تپوس اوکړو دا څوک دے؟ خلقو اووے دا د مریم خوے دے. بیا زهٔ لاړم او بل طرفته مے کتل نو یو سړے مے اولیدو سور رنګے غټ په ښي سترګه کاڼړے لکه د هغهٔ سترګه راوتے انګور دے. ما اووے دا څوک دے هغوی اووے دا دجال دے. په تولو خلقو کښ د هغهٔ مشابه

---

[1] معاذ الله . د الله تعالی خو سترګے صحیح او سالمے دی. د هر قسم عیب او نقص نه او هغه پاک دے د هر قسم خلل او نقصان نه

شبهًا ابن قطن

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَأَيْتَنِي فِي الْحِجْرِ وَقُرَيْشٌ تَسْأَلُنِي عَنْ مَسْرَاىَ فَسَأَلَتْنِي عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ بَيْتِ الْمَقْدِسِ لَمْ أُثْبِتْهَا فَكُرِبْتُ كُرْبَةً مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ قَطُّ قَالَ فَرَفَعَهُ اللهُ لِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ مَا يَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَنْبَأْتُهُمْ بِهِ وَقَدْ رَأَيْتَنِي فِي جَمَاعَةٍ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَإِذَا مُوسَى قَائِمٌ يُصَلِّي فَإِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَإِذَا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَام قَائِمٌ يُصَلِّي أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ الثَّقَفِيُّ وَإِذَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام قَائِمٌ يُصَلِّي أَشْبَهُ النَّاسِ بِهِ صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ فَحَانَتِ الصَّلَاةُ فَأَمَمْتُهُمْ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنَ الصَّلَاةِ قَالَ قَائِلٌ يَا مُحَمَّدُ هٰذَا مَالِكٌ صَاحِبُ النَّارِ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَبَدَأَنِي بِالسَّلَامِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمَّا أُسْرِيَ بِرَسُوْلِ اللهِ

ابن قطن دے.

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمايلي دي ما خپل ځان په حطيم کښې اوليدو او قريشو خمانه خما د سَيل يعنى د معراجه حال تپوس کولو . نو هغوی د بيت المقدس د يوڅو څيزونو تپوس کولو چه هغه ماڼه شو بيانولے . ما ته دير غم شو چه داسے زهٔ چرته په غم کښې شوے نهٔ وم. بيا اللهؓ بيت المقدس اُوچت کړو او خما مخے ته ئے کينبودو ما به هغے ته کتل اُوس چه به دوی د کومے خبرے تپوس کولو ما به ورته ښودله او ما خپل ځان د پيغمبرانوؑ په جماعت کښې اوموندو. چه ما اوکتل نو مُوسٰیؑ ولاړ وو مونځ ئے کولو هغه يو سړے دے درميانه قد او د کلک بدن لکه د شنوءه خلق چه وی او اوم ليدو عيسٰی بن مريم لره هغه هم ولاړ وو مونځ ئے کوو. او د ټولو نه زيات مشابه د هغهٔ سره عروه ابن مسعود ثقفيؒ لرمحومم او اوم ليدو ابراهيمؑ چه ولاړ وو مونځ ئے کولو. د ټولو نه زيات مشابه د هغه ستاسو صاحب دے. هغهٔ خپل ځان ته اوفرمايل بيا د مانځهٔ وخت راغے. نو ما امامت اوکړو (او ټولو پيغمبرانوؑ په ما پسے مونځ اوکړلو) هر کله چه زهٔ د مانځهٔ نه فارغ شوم نو يو ويونکی اووے يا محمدﷺ دا مالک دے د جهنم داروغه دهٔ ته سلام اوکړه ما د هغے طرف ته اوکتل نو هغے پخپله اول سلام اوکړو[1].

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے هر کله چه د رسول اللهﷺ معراج

[1] قاضی عياضؒ ويلی دی د هغه پيغمبرانوؑ په مانځهٔ کښې چه گفتگو ئے وه هغے لره پوره ته مونږ بيان کړے دهٔ. او کله د مانځهٔ نه ذکر او دُعا مراد وی يا بل څهٔ د آخرت عمل. اوس که څوک وائی چه پيغمبرﷺ حضرت موسٰی لره په قبر کښې په مونځ کولو اوليدو. بيائے په بيت المقدس کښې د هغهٔ سره مونځ اوکړلو بيا په اسمان کښې د هغهٔ سره ملاؤ شو دا څنګه کيدے شو. نو ددے جواب دادے چه په قبر کښې کوم چه هغه ليدلے وو نو دا خو د معراج شريف نه وړاندے وو. او په بيت المقدس کښې ئے چه کوم د رسول اللهﷺ په اقتداء يعنی په هغهٔ پسے مونځ کړے وو. دا د معراج شريف په شپه مبارکه کښې وو. بيا حضرت موسٰیؑ يا خو د رسول اللهﷺ نه مخکښې اسمان ته تلے وو. دا مونځ ئے د اسمانونو د واپسئ نه پس اوکړلو.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْتُهِيَ بِهِ إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَهِيَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ إِلَيْهَا يَنْتَهِي مَا يُعْرَجُ بِهِ مِنَ الْأَرْضِ فَيُقْبَضُ مِنْهَا وَإِلَيْهَا يَنْتَهِي مَا يُهْبَطُ بِهِ مِنْ فَوْقِهَا فَيُقْبَضُ مِنْهَا قَالَ إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى قَالَ فَرَاشٌ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ فَأُعْطِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا أُعْطِيَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَأُعْطِيَ خَوَاتِيمَ سُورَةِ الْبَقَرَةِ وَغُفِرَ لِمَنْ لَمْ يُشْرِكْ بِاللهِ مِنْ أُمَّتِهِ شَيْئًا الْمُقْحِمَاتُ

اوشو نو هغه د سدرة المنتهٰى پورے اورسیدو. او هغه په شپږم اسمٰان کښې دے. د زمکے نه چه څۀ اوخیژی هغه دلته راخې اودریږی بیا اخستے کیږی. او کوم چه د بره نه راکوزیږی هغه هم دلته اودریږی بیا اخستے کیږی. الله تعالى فرمایلی دی هر کله چه سدرة المنتهٰى ئے پټوله هغه څیزونه چه هغه پټیدل وو عبد الله وائی یعنی د سروزرو پتنګان. بیا رسول الله ﷺ لره هلته درے څیزونه ورکړے شول یو خو پنځۀ مونځونه دویم د سوره بقرے آخری اٰیتونه دریم الله بخښنه اوکړه د هغۀ په امت کښې هغه چا ته چه هغه شرک نۀ کوی د الله سره. باقی تول تباه کونکو والاګناهونو لره[1]

بَابُ مَعْنَى قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى وَهَلْ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَبَّهُ لَيْلَةَ الْإِسْرَاءِ

باب: په دے باب کښې دا بیان دے چه وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى نه څۀ مراد دے او رسول الله ﷺ حق تعالى جل جلاله لره د معراج په شپه کښې لیدلے وو یا نۀ[2]

---

[1] نووی وائی په تولو نسخو کښې دغه ده. چه سدرة المنتهٰى په شپږم اسمان کښې دے. لیکن پورته تیر شو د انس رضی الله عنه په روایاتو کښې چه سدرة المنتهٰى د اووم اسمان دپاسه ده. او قاضی عیاض وائی چه دا صحیح دے. او د اکثرو دغه قول دے. او ممکن دی جمع کول په دواړو روایتونو کښې په دے شان چه د سدرة المنتهٰى ویخ په شپږم اسمان کښې وی او څانګے د هغے په اووم اسمان دپاسه. خکه چه هغه ډیره لویه ونه ده او خلیل وائی سدرة المنتهٰى یوه اونه ده په اووم اسمان کښې چه هغه سورے کړے شوے ده په اسمانونو او په جنت. اود لویو لویو کبیره ګناهونو مطلب داد ے. چه کوم بنده د دے امت نه مړ شی او هغه په شرک کښې ګرفتار نۀ وی نو هغه به همیشه په جهنم کښې نۀ پاتے کیږی. بلکه چرته نه چرته به ضرور بخلے کیږی. او دا مراد نۀ دے چه دۀ ته به عذاب نۀ وی. ولے چه په نور نصوص شرعیه او اجماع امت سره دا امر ثابت شوے دے. چه بعضے موحدینو لره چه هغه ګنهګار وی به عذاب ورکولے سی او احتمال دے چه دلته بعضے خاص خلق مراد وی چه د هغوی تول ګناه به بخښلے کیږی. او دوی لره بالکل عذاب نۀ وی یاالله ته په خپل عنایت اوکرم سره مونږ په دغه خلقو کښې کړے او زمونږ ګناهونه او بخښے. او لکه څنګه چه تا مونږ تر اوسه پورے د شرک نه بچ کړی یو دغه شان خاتمه هم زمونږه په توحید باندے اوکړے. او مۀ ګرفتارئے مونږ لره په شرک کښې. بیشکه تۀ تول اختیار لرے

[2] قاضی عیاض ویلی دی سلفو او خلفو اختلاف کړے دے. په دے امر کښې چه زمونږ پیغمبر ﷺ الله تعالى جل شانه لره د معراج په شپه کښې لیدلے وو یا نۀ نو حضرت عائشے انکار کړے دے د لیدو نه لکه پخپله په دے کتاب کښې د هغے نه روایت دے او دغه شان منقول دے د ابوهریره او یو جماعت د صحابو نه او دغه مشهور دے دابن مسعود نه او په دے طرف تلے دے یو جماعت د محدثینو او

متکلمينو او د ابن عباس نه داسے روايت دے چه هغوی الله تعالی لره په خپلو سترګو سره ليدلے دے او دغه شان قول دے د ابوذر او کعب نه او حسن بصری به دد ے خبرے قسم خوړلو . او دغه شان مروی دے د ابن مسعود . ابوهريره رضي الله عنهما او امام احمد بن حنبل نه او خاوندانو د مقالاتو د امام ابو الحسن اشعری او د هغوی د ملګرو نه نقل کړے دے چه هغوی الله پاک لره ليدلے دے او زمونږ بعضے مشانخو به د ے مسئله کښې توقف کړے دے او ويلی دی چه په ليدو باندے څۀ صفا دليل نشته ليکن ليدل جائز دی ولے چه د الله تعالی ديدار په دنيا کښې ممکن دے . او د موسیٰ درخواست کول دديدار دپاره دغه دليل دے د امکان خکه چه نبی د هغه امر درخواست ځنګه کوی چه هغه د الله تعالی په نسبت محال وی. او اختلاف کړے دے علماؤ چه حضرت موسیٰ حق تعالی ليدلے دے يا نۀ دی او قاضی ابوبکر ويلی دی چه حضرت موسیٰ او زمونږ پيغمبر دواړو حق تعالی لره ليدلے دے. په دے شان علماؤ اختلاف کړے دے په دے مسئله کښې چه زمونږ پيغمبر ﷺ د حق تعالی سره خبرے کړی دی د معراج په شپه بلاواسطه يا نۀ دی. سوا د اشعری او د يو جماعت د متکلمونو په دې نے کلام کړے دے . او بعضو دد ے قول نسبت ورکړے دے د جعفر بن محمد او ابن مسعود او ابن عباس په طرف په دے شان علماؤ اختلاف کړے دے دد ے ايت په معانو کښې ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى يعنی بيا نږدے شو او راکوز شو. او بعضو ويلی دی. دا نږدے کيدل د جبرائيل سره دی يا د سدرة المنتهی سره . او بن عباس او محمد بن کعب او جعفر بن محمد رضي الله عنهم وغيره نه منقول دی چه نږدے کيدل د رسول الله ﷺ الله تعالی عزوجل ته دی. په دے صورت کښې د نږدے کيدو تاويل کول پريوځي. او مراد به د قرب نه دا وی چه د خدائے بزرګی په هغۀ باندے ظاهره شوه. او انوار د معرفت ورته بيرته يعنی برسيره شو. او د غيبو اسرار ورته معلوم شول او د قاب قوسين او اَوْ اَدْنٰی به هم تاويل کول وی . او دغه شان تاويل به نے کيدے شی په هغه حديث کښې چه هغه سرے يو ليش ماته نږدے وی او زۀ د يو لاس نه هغۀ ته نږدے يم . ختم شو کلام د قاضی عياض. ليکن صاحب تحرير خو دغه اختيار کړے دے. چه رسول الله ﷺ خدائے پاک عز وجل لره ليدلے دے. او ويلی دی چه په دے امر باندے ډير دليلونه دی خو مونږ په هغے سره دليل راوړو کوم چه قوی وی. يو حديث دے د ابن عباس نه هغوی ويلی دی چه ولے تاسو تعجب کوئ په دے خبره سره چه خلعت ابراهيم ته ملاو شو. او کلام موسیٰ ته او ديدار محمد مصطفی ﷺ ته او د عکرمه نه روايت دے د ابن عباس نه تپوس اوشو. چه ولے محمد ﷺ خپل رب لره ليدلے دے؟ هغوی اووے آو. او د شعبه نه په اسناد منقول دے هغوی د قتاده نه او هغوی د انس نه ويلی دی چه محمد ﷺ خپل رب لره ليدلے دے. در اصل په دے باب کښې حديث دے ابن عباس. او ابن عباس عالم دے دد ے امت . او په ګرانو مسئلو کښې به خلقو د هغۀ طرفته رجوع کوله ابن عمر په دے مسئله کښې د هغۀ طرفته رجوع کړے ده. او د هغۀ نه ئے تپوس کړے دے چه محمد ﷺ خپل رب لره ليدلے دے. هغوی اووے آو ليدلے دے . او حديث د حضرت عائشے ضرر نۀ کوی. ولے چه حضرت عائشے داسے نۀ دی ويلی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه هغۀ فرمايلی وو چه ما نۀ دے ليدلے خپل پروردګار لره بلکه هغوی خپل رائے بيان کړے او په هغه ايتونو باندے ئے خپل خيال کړے وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْمِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ اَوْيُرْسِلَ رَسُوْلًا او ايت لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ او صحابی هر کله چه څۀ خبره اوکړی او نور صحابه د هغۀ مخالف وی. نو قول د هغۀ حجت نۀ دے . او هر کله چه صحيح شول روايتونه د ابن عباس نه د ديدار په اثبات کښې نو ضرور دی ثابتول د دغه قول خکه چه دا امر په عقل سره نۀ شی معلوميدے. بلکه ضروری دی اوريدل د شارع نه او په دے خوک نۀ دی پوهه چه ابن عباس هم په خپل رائے سره د ديدار ثبوت ورکړے وی. معمر بن راشد ويلی دی هر کله چه اختلاف بيان کړے شو د حضرت عائشے او د ابن عباس په رؤيت الٰهی کښې خو زمونږ په نز حضرت عائشه د ابن عباس نه په علم کښې زياته نۀ ده. او ابن عباس ثابتوی يو امر لره چه د هغے نفی کړی وی نورو او ثابتونکے مقدم دے په نفی کونکی باندے. ختم شو کلام د صاحب تحرير . او حاصل دادے چه د اکثرو علماؤ په نز ترجيح دے خبرے ته ده چه رسول الله ﷺ خپل رب لره په دواړو سترګو سره ليدلے دے د معراج په شپه او دليل د هغوی دغه حديث دے د ابن عباس وغيره. او دا ثابته ده چه ابن عباس د رسول الله ﷺ نه اوريدلی وی او رائے ويلی وی . په هغے

عَنِ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَأَلْتُ زِرَّ بْنَ حُبَيْشٍ عَنْ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى جِبْرِيلَ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ

د سلیمان شیباني نه روایت دے ما د زر بن جیش نه تپوس اوکړو د ے ایت لره فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ بیا یعنی پاتے شو فرق د دوو لیندو یا دد ے نه هم نږد ے هغوی ویلي دي ماته عبد الله بن مسعودؓ بیان کړے د ے چه رسول الله ﷺ حضرت جبریلؑ لره اولیدو د هغهٔ شپږ سوه وزرے و ے[1].

کښې څهٔ شک نشته بیا حضرت عائشےؓ چه کومه د هغے نفي کړے ده. نو هغه د څهٔ حدیث نه نهٔ ده او کهٔ چرے د هغے سره څهٔ حدیث و ے نو بیان کړے به ئے وو. بلکه هغوی استنباط کړے د ے دد ے ایت نه او د هغے مطلب به مونږ وړاند ے بیانوو دا چه کوم حضرت عائشے دلیل راوړے د ے دد ے ایت نه لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ دد ے جواب خو ظاهر دي. ولے چه ادراک ویلے شي احاطے ته او د الله تعالی احاطه څوک نهٔ شي کولے او هرکله چه په نص سره د احاطے نفي رااووته نو دد ے نه د رؤیت نفي نهٔ شي وتلے کوم چه بغیر د احاطے نه وي او خلقو نور هم دد ے ایت جوابونه ورکړي دي. مگر د هغے د بیانولو ضرورت نشته او دا جواب مختصر او صحیح د ے. کوم چه مونږ بیان کړو او دویم دلیل د عائشے رضی الله عنها دد ے ایت نه د ے وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ دد ے جواب په څو قسمه د ے. یو خو دا چه د لیدو په وخت د کلام کول خو څهٔ ضروري نهٔ دي نو جائز د ے چه رؤیت بغیر د کلام نه وي. دوومه دا چه دد غه عامو نه زمونږ پیغمبر خاص کړے شوے د ے. دریمه دا چه دوحي نه مراد کلام د ے بغیر د وسطے نه اگر چه جمهورو داویلي دي چه دوحي نه دد غه ځائے الهام یا خواب مراد د ے. او د حجاب دا معانے دي چه خدائے صفا ښکاره باره خبرے نه کوي. بلکه هغه د خدائے کلام لره اوري او هغه وینی نه د حجاب نه دا غرض نهٔ د ے چه هلته څهٔ پرده ده. چه هغه جدا کوي یو مقام لره د بل مقام نه. انتهی ما قال النووی مختصراً. مولانا ابو طیب په سراج الوهاج کښې لیکلي دي. چه ماته کومه په د ے مقام کښې معلومه شوه هغه داده. چه په د ے مسئله کښې خاموشي غوره ده. اوغور او حوض کول پکښې ښهٔ نهٔ دي. ځکه چه د قرآن ایتونه محتمل دي. او هر کله چه احتمال وي نو استدلال نهٔ شي کید ے او چا چه رؤیت لره ثابت کړے د ے. هغه د قرآن نه ثابتوي. حالانکه د قرآن حال داد ے چه هغه مجمل د ے. او ابن عباس څهٔ مرفوع حدیث په د ے باب کښې نهٔ د ے راوړے. بلکه هغوی استدلال کړے د ے د ایت نه نو دا هم د هغهٔ اجتهاد شو او اجتهاد د چا حجت نهٔ د ے. د کومے پورې چه په هغے باند ے دلیل نهٔ وي. او حضرت عائشه هم دلیل راوړي د اجتهاد نه او د هغے استدلال زیات واضح د ے او په یو روایت کښې صراحتًا دا امر ثابت د ے دمسروق نه چه حضرت عائشے ویلي دي. ما د ټولو نه مخکښې دد ے ایت تپوس د رسول الله ﷺ نه کړے د ے هغهٔ اوفرمائیل چه مراد دد ے نه جبرائیل د ے. او دد ے نه صفا معلومه شوه چه رسول الله ﷺ دد ے ایت تفسیر سره د جبرائیل کړے د ے نو اوس دد ے نه د اوریدو دپاره څهٔ دلیل پکار د ے. ځکه غوره داده چه توقف اوکړے شي د کومے پورے چه دلیل قائم نهٔ وي. او زهٔ دا نه وایم چه دیدار الهی جائز نهٔ د ے. بلکه خبره په د ے کښې ده چه آیا دیدار شوے د ے کهٔ نهٔ د ے. او حدیث موقوف په د ے باب کښې حجت کید ے نهٔ شي. هرکله چه د هغے خلاف دویم حدیث موقوف وي. او دا مسئله د عقل او اجتهاد نه معلومید ے نهٔ شي. بلکه سماع پکار ده د رسول الله ﷺ نه او په د ے ځائے باند ے څهٔ سماع مرفوع نشته د ے. انتهی مختصراً

[1] یعنی هغه ئے په اصل صورت باند ے اولیدو. گني نو په نورو شکلونو سره خو به هغه اکثر لیدهٔ. عبد الله بن مسعود هم کوم چه دد ے حدیث راوي د ے لوئے عالم د ے دد ے امت او معارض د ے د هغه قول د عبد الله بن عباسؓ د قول سره. نووي وائي د عبد الله بن مسعودؓ دغه مذهب دي چه مراد دد ے ایت نه جبرائیل د ے لیکن اکثر مفسرین دد ے طرفته تلي دي چه مراد د لیدو نه لیدل د

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى قَالَ رَأَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ

عبد الله بن مسعود وائی چه حق تعالی فرمایلی دی مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى. یعنی دروغ نهٔ لیدو زړهٔ کوم چه نے لیدو د هغے نه مراد د جبرئیل لیدل دی. حضرت ﷺ اولیدو هغهٔ لره د هغهٔ شپږ سوه وزرے وے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى قَالَ رَأَى جِبْرِيلَ فِي صُورَتِهِ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ

عبد الله بن مسعود ویلی دی دا چه کوم حق تعالی فرمائیلی دی لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى. بیشکه اوئے لیدے د خپل رب لوئے نخښے. مراد د دے نه دا دے چه هغوی اولیدهٔ جبرائیل لره د هغهٔ په اصل صورت کښې شپږ سوه وزرے وے د هغهٔ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى قَالَ رَأَى جِبْرِيلَ

د ابوهریره نه روایت دے د دے په تفسیر کښې وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى. یعنی اولیدهٔ هغهٔ لره په دویم ځل راکوزیدو کښې چه اولیدو هغوی جبرائیل لره[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى قَالَ رَآهُ بِفُؤَادِهِ مَرَّتَيْنِ

د ابن عباس نه روایت دے مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى په تفسیر کښې چه رسول الله ﷺ الله تعالی لره په خپل زړهٔ سره دوباره اولیدهٔ[2].

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ كُنْتُ مُتَّكِئًا عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَتْ يَا أَبَا عَائِشَةَ ثَلَاثٌ مَنْ تَكَلَّمَ

د مسروق نه روایت دے. چه ما تکیه لګولے وه د حضرت عائشے په خوا کښې هغوی اووے. اے ابو عائشه (دا کنیت دے د مسروق) چه

الله تعالی دی بیا هغه خلقو اختلاف کړے دے. بعضو ویلی دی چه خپل پروردګار نے د خپل زړهٔ په سترګو سره اولیدو. او لیدل په هقیقت کښې صحیح لیدل وو په دی شان چه الله تعالی یوه سترګه د هغهٔ په زړهٔ کښې پیدا کړه او بعضو ویلی دی په ظاهر دواړو سترګو سره نے اولیدهٔ. امام ابو الحسن واحدی وائی دا بیان دے د رسول الله ﷺ د دیدار الٰهی د معراج په شپه کښې. ابن عباس او ابوذر او ابراهیم تمیمی رضی الله عنهم وائی چه هغه خدائے پاک د زړهٔ په سترګو اولیدو. یا ئے دلیدو طاقت ورته په زړهٔ کښې واچوو او هغه اولیدو داسے لکه چه ه سترګو سره ئے ګوری. او یو جماعت د مفسرینو په د ے طرف تلے دے. چه هغه په دغه ظاهری سترګو سره خدائے تعالی لره لیدلے دے. او دغه قول دے د انس او عکرمه او حسن او د ربیع (نووی)

[1] نووی رحمه الله وائی دا عبد الله بن مسعود او ابوهریره رضی الله عنهما ویلی دی. دغه شان منقول دی د ډیرو سلفو نه او دغه روایت دے د ابن عباس او ابن زید او محمد بن کعب او مقاتل بن حیان نه. او ضحاک ویلی دی مراد د سدرة المنتهٰی لیدل دی او بعضو ویلی دی چه د شین رف رف او واحدی ویلی دی چه اکثر علماء دا وائی چه رسول الله ﷺ حضرت جبرائیل لره د هغهٔ په اسل صورت کښې اولیدهٔ او دغه مراد دے د ایت نه.

[2] نو د ابن عباس دغه قول دے. چه مراد په دغه ایاتونو کښې د الله دیدار دے. او وړاندے دد ے تفصیل تیر شوے دے

بِوَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ فَقَدْ أَعْظَمَ عَلَى اللهِ الْفِرْيَةَ قُلْتُ مَا هُنَّ قَالَتْ مَنْ زَعَمَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ أَعْظَمَ عَلَى اللهِ الْفِرْيَةَ قَالَ وَكُنْتُ مُتَّكِئًا فَجَلَسْتُ فَقُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْظِرِينِي وَلَا تَعْجَلِينِي أَلَمْ يَقُلِ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى فَقَالَتْ أَنَا أَوَّلُ هَذِهِ الْأُمَّةِ سَأَلَ عَنْ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ لَمْ أَرَهُ عَلَى صُورَتِهِ الَّتِي خُلِقَ عَلَيْهَا غَيْرَ هَاتَيْنِ الْمَرَّتَيْنِ رَأَيْتُهُ مُنْهَبِطًا مِنَ السَّمَاءِ سَادًّا عِظَمُ خَلْقِهِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ فَقَالَتْ أَوَلَمْ تَسْمَعْ أَنَّ اللهَ يَقُولُ لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ أَوَلَمْ تَسْمَعْ أَنَّ اللهَ يَقُولُ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ قَالَتْ وَمَنْ زَعَمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَمَ شَيْئًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَقَدْ أَعْظَمَ عَلَى اللهِ الْفِرْيَةَ وَاللهُ يَقُولُ يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ قَالَتْ وَمَنْ زَعَمَ

درے خبرے دی چه څوک د هغے قائل شی هغه لوئے دروغ اوویل په خدائے پاک باندے. ما اوے. هغه درے خبرے کومے دی؟ هغوی اووے (یوه داده) چه څوک دا گنړی چه حضرت محمد ﷺ خپل رب لره لیدلے دے. هغه لوئے دروغ اووے په الله پاک. مسروق وائی ما تکیه لګولے وه. ددے په اوریدو سره کیناستم ما اووے اے ام المؤمنین ما ته لږ ما خبرے کولو ته پریږده او تادی مه کوه. ولے الله تعالی نه دی فرمائیلی وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى. حضرت عائشے اووے. په دے امت کښ ما د ټولو نه وړاندے ددے ایتونو د رسول الله ﷺ نه تپوس کړے دے. هغه اوفرمائیل چه مراد په دے ایتونو کښ حضرت جبریل دے. ما هغه په خپل اصلی حالت نه وو لیدلے سوا د دویم خل نه چه د هغے ذکر په دے ایتونو کښ دے. ما او لیدو هغه لره چه راکوزیدو د اسمان نه او د هغه د تن بدن لوئے والی د اسمان نه د زمکے پورے خائے نیولے وو. بیا حضرت عائشے اووے. ولے تا نه دی اوریدلی چه الله تعالی فرمائیلی دی. لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ولے تا نه دی اوریدلی چه الله تعالی فرمائیلی دی. وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا د عَلِيٌّ حَكِيمٌ پورے. (دویمه داده) چه څوک دا خیال کوی چه رسول الله ﷺ د الله د کتاب نه څه پټ کړی دی. نو هغه لوئے دروغ اوویل په الله ځکه چه الله تعالی فرمائیلی دی. يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ یعنی اے پیغام رسونکیه اورسوه هغه څه چه نازل شوی دی په تا باندے د طرفه د رب ستا نه. او که چرے تا داسے اونه کړو نو تا پیغام او نه رسوو (دریم دادے) چه څوک وائی چه رسول الله ﷺ ته د صبا د

أَنَّهُ يُخْبِرُ بِمَا يَكُونُ فِي غَدٍ فَقَدْ أَعْظَمَ عَلَى اللهِ الْفِرْيَةَ وَاللهُ يَقُولُ قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللهُ

حال پته وه (يعنى د راتلونكى حال)، نو هغه لوئے دوغ اووېل په الله بانده. الله پخپله فرمائيلى دى اے محمدؐ په زمكه او اسمانونو كښ څوک د غيبو خبره نۀ پيژنى ما سوا د الله نه[1]

عَنْ دَاوُدَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَزَادَ قَالَتْ وَلَوْ كَانَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاتِمًا شَيْئًا مِمَّا أُنْزِلَ عَلَيْهِ لَكَتَمَ هٰذِهِ الْآيَةَ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيهِ

داؤد دغه حديث روايت كړے دے. لكه چه پورته ذكر شو دومره زيات دے چه حضرت عائشےؓ ويلى دى. كۀ چرے رسول الله پټولو والا وے نو پټ كړے به ئے وو دے ايت لره. وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ د اخره پورے[2].

---

[1] ورمبے ايت د سورة انعام په دولسمه ركوع كښ دے چه ترجمه د هغے داده. چه هغه لره نۀ شى موندے سترگے لره هغه په راز پوهه او خبردار دے او دويم ايت د سورة شُورى په پنځمه ركوع كښ دے. ترجمه د پوره ايت داده. او نشته دے طاقت د چا بنده چه خبرے اوكړى د الله پاک سره مگر په اشاره سره يا د پردے نه ورستو سره. يا اوليږى يو پيغام رسونكے بيا اورسوى د هغۀ حكم څۀ چه غواړى هغه د ټولو نه اوچت او حكمتونو والا دے. دد ے حديث نه دا هم معلومه شوه چه داسے ويل صحيح دى چه الله تعالى فرمائى. او مطرف بن عبد الله داسے ويل مكروهه گنړلى دى. اوويلى دى چه دا وايئ چه الله تعالى فرمائيلى دى او مۀ وايئ چه الله تعالى فرمائى. خو د مطرف دا قول مخالف دے د صحابو او تابعينو د فعل نه. او صحيح او غوره خبره داده چه دواړه قسمه ويل صحيح دى او دا قول دے د ائمه سلفو او خلفو او پخپله په قرآن كښ موجود دے. وَاللهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِ السَّبِيلَ او په صحيح مسلم كښ د ابوذرؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمايلى دى الله تعالى فرمائى مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا او چا چه دد ے نه انكار اوكړو د هغه سره څۀ دليل نشته دے (نووى). دد ے حديث نه معلومه شوه چه د غيبو علم صرف د خدائے پاک سره خاص دے او سوا د خدائے نه بل هيچا ته د غيبو علم نشته دے كۀ پيغمبر وى يا فرښته يا ولى يا صالح يا سلطان يا عارف. او پخپله الله تعالى خپل كتاب زمونږ د پيغمبرﷺ په ژبه سره بيان كړے دے. وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ. يعنى كۀ چرے ماته د غيبو علم وے نو لويه نيكى به م حاصله كړے وه. او ماته به څۀ تكليف نۀ رارسيدو زۀ خو يو ښكاره يره ولو والا يم. او هر كله چه د الله او د رسول الله د بيان نه معلومه شو. چه د غيبو علم سوا د خدائے پاک نه بل چا ته نشته. اوس د بل د بيان څۀ حاجت دے. الله تعالى د هدايت اوكړى هغه بدعتيانو ته چه هغه د غيبو علم رسول اللهﷺ يا د نورو او لياء او مشائخو دپاره ثابتوى. او په هغے بانده څۀ دليل نشته بلكه د ليل هغے په خلاف باندى موجود دے خدائے خبر چه د هغوى په عقلونو بانده څۀ مار پريوتے دے. او شيطان هغوى لره كوم خائے پرمخے غرخوى. خدائے تعالى دمونږ لره او زمونږ د طريقے خلقو لره د داسے خيالونو نه بچ كړى (السراج الوهاج)

[2] دا ايت د سورة احزاب په پنځمه ركوع كښ دے. ترجمه د هغے داده. او هر كله چه تا وينا شروع كړه هغه سړى ته چه په هغۀ بانده الله احسان كړے او نيسه د خان سره جوړه خپله او اويريږه د الله نه او تا پټولو په خپل زړۀ كښ يو څيز الله هغے لره بيرته كول غواړى او تۀ يريد ے د خلقو نه او پكار دى د الله نه يريدل بيا چه هر كله زيد ختم كړو د هغے ښځے نه خپل غرض. مونږ هغه ستا په نكاح كښ در

وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَبَّهُ فَقَالَتْ سُبْحَانَ اللهِ لَقَدْ قَفَّ شَعَرِي لِمَا قُلْتَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَحَدِيثُ دَاوُدَ أَتَمُّ وَأَطْوَلُ

د مسروقؒ نه روایت دے ما د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو. چه محمد ﷺ خپل رب لیدلے دے؟ هغوی اووے سبحان الله ځما ویختهٔ نیغ اودریدل (دد ے خبرے په اوریدو سره) او بیان ئے کړو حدیث لره په دغه شان لیکن په روایت د داؤد (کوم چه پورته تیر شو) لوئے او پوره دے.

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ فَأَيْنَ قَوْلُه ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى قَالَتْ إِنَّمَا ذَاكَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْتِيهِ فِي صُورَةِ الرِّجَالِ وَإِنَّهُ أَتَاهُ فِي هَذِهِ الْمَرَّةِ فِي صُورَتِهِ الَّتِي هِيَ صُورَتُهُ فَسَدَّ أُفُقَ السَّمَاءِ

د مسروقؒ نه روایت دے ما حضرت عائشےؓ ته اووے (تهٔ وائے چه رسول الله ﷺ خپل رب لره نهٔ دے لیدلے) بیا د الله دا قول څنګه دے. ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى هغوی اووے دد ے ایت نه خو جبرائیلؑ مراد دے. هغه به همیشه هغه ته د سړو په صورت کښ راتلو. او په دغه ځل خاص په خپل صورت کښ راغے نو ټوله غاړه د اسمان ډکه شوے وه[1].

کړه. ځکه چه په مسلمانانو باند ے حرج نهٔ وی په نکاح کولو کښ د خپلو متبنّٰی د ښځو سره هر کله چه هغوی پوره کړی د دغو سره خپل غرض او دی د الله حکم پوره کول مراد ددغه سړی نه زید بن حارثه دے، چه هغه رسول الله ﷺ په خوے نیولے وو. د هغهٔ بی بی زینب وه چه د هغهٔ د ترور لور وه. هر کله چه د زید سره د هغے جوړه رانغله. نو وړمبے خو هغه زید ته نصیحت اوکړو خو په زړهٔ کښ د هغهٔ دا خیال وو چه کهٔ چرے زید هغے لره پریږدی نو زهٔ به د هغے سره نکاح کوم. هغه دا خیال په زړهٔ کښ پټ اوساتو. ځکه چه کافران او منافقان بدګونی او نهٔ کړی. چه محمد ﷺ د خپلے اینګور سره د نکاح کولو په فکر کښ دے. الله تعالی دغے اراد ے لره ظاهره کړه او نکاح د زینب ئے د هغهٔ سره اوکړو. او د کافرانو طعن او تشنیع لره ئے بے فائد ے کړو. او اوئے فرمایل چه متبنّٰی خوئے په اصل کښ خوئ نهٔ دے. چه د هغهٔ جوړه په پاللو باند ے حرامیږی. په د ے ایت کښ چونکه حضرت ﷺ ته نصیحت کړے چه تهٔ د خلقو نه یریږے حالانکه د الله نه زیات یریدل پکار دی. او د هغهٔ د زړهٔ خبره کومه چه هغه پټوله ښکاره ئے کړله. پس کهٔ چری هغه یو یا څهٔ ایت لره پټولے نو معاذ الله د ے لره به ئے پټ کړے وو.

[1] په د ے صورت کښ به د ایت معنی داوی. چه بیا نږد ے شو جبرائیلؑ او نږد ے راغے محمد ﷺ ته او پاتے شوه فاصله د دوؤ لیندو یا د هغے نه نږد ے او بعضو د قوس نه ذراع مراد اخستے دے. نو معنی به داوی. پاتے شوه فاصله د دوو لاسو یا دد ے نه هم کمه یعنی د هغه او د جبرائیلؑ په مینځ کښ دومره نږد ے والے راغے. دد ے نه پس الله تعالی د خپل بنده طرفته وحی اوکړه کومه چه ئے اوکړه.

عَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ قَالَ نُورٌ أَنَّى أَرَاهُ

د ابوذر ؓ نه روایت دے. ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. آیا تا خپل پروردګار لیدلے دے؟ هغه اوفرمائیل هغه خو نور دے ما به هغه څنګه لیدو[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي ذَرٍ لَوْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَسَأَلْتُهُ فَقَالَ عَنْ أَيِّ شَيْءٍ كُنْتَ تَسْأَلُهُ قَالَ كُنْتُ أَسْأَلُهُ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ قَالَ أَبُو ذَرٍ قَدْ سَأَلْتُ فَقَالَ رَأَيْتُ نُورًا

د عبد الله بن شقیق ؓ نه روایت دے. ما ابوذر ؓ ته اووے کۀ چرے ما رسول الله ﷺ لیدلے وے نو څۀ تپوس به م تر نه کړے وے. ابوذر ؓ اووے تا څۀ تپوس کوو؟ عبد الله اووے ما به دا تپوس کړے وے چه تا خپل پروردګار لیدلے دے کۀ نۀ دے. ابوذر ؓ اووے ما دا تپوس کړے وو د رسول الله ﷺ نه. هغه فرمائیلی وو چه ما یو نُور لیدلے وو[2].

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ فَقَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَنَامُ وَلَا يَنْبَغِي

د ابو موسیٰ ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ مونږ ته په ولاړے پنځۀ خبرے واورولے هغۀ فرمائیلی وو چه الله جل جلاله نه اودۀ کیږی او نۀ خوب د هغۀ لائق دے. ولے چه خوب د عضلات او د بدن د ستړے او

---

[1] نووی رحمه وائی یعنی حجاب د هغه نور دے. او معنی داده چه د نُور په وجه سره ما هغه نه شو لیدلے. ولے چه هر کله نُور ډیر وی نو سترګے بریښ کوی او څۀ په نظر نه راځی. د عرفاؤ په نزد دے حدیث معنی داده. چه الله تعالی جل شانه نُور دے. او ظهور دے. یعنی د هغے په وجه سره د ټولو هستی او نمائش دے. لکه چه په قران کښں دی اللهُ نُورُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ کۀ چرے دا نُور نۀ وے توله نیستی نیستی به وه او د څۀ څیز وجود به وو. بیا چه څنګه د نُور په وجه سره نور څیزونه خودلے کیږی. دغه شان د الله جل شانه مخلوقاتو لره مونږ وینو. خو د هغۀ لیدل ګران دی. ځکه چه مونږ د مادے او د جسم د کثافت نه ډک شوی یو. البته الله تعالی چه هر کله خپلو پاکو بندیګانو لره د هغۀ علائق جسمانی نه صفا کړی او هغو لره نورانی کړی نو په هغه وخت به خپل نور اقدس هغوی ته اوښائی. والله اعلم

[2] یعنی صرف یو نور ماته اوښودلے شو او نور ما څۀ نه دی لیدلی. قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی. دا خبره محال ده. چه د الله ذات نُور وی ځکه چه نُور یو جسم دے. او الله سبحانه وتعالی پاک دے د جسمیت نه. دغه مذهب دے د ټولو امامانو او دا چه کوم الله فرمائیلی دی الله نُور دے د زمکے اسمانونو او په حدیث کښں ئے د نور اطلاق په ذات الٰهی باندے کړے دے. نو د دے نه مراد داد ے چه هغه د نور خالق دے. او خاوند د نور. یا هادی دے د ټولو اسمانونو او زمکے د مخلوق. یا نورانی کونکے دے د مومنانو زړونو لره. د اردو کتاب مترجم وائی د قاضی عیاض دا تقریر مسلّم نۀ دے او نۀ د سلفو دا چال دے. بلکه الله تعالی حقیقتاً نور دے. او د نور لفظ په متعدد نصوصو کښں په هغه باندے راغلے دے بیا په هغے کښں د تاویل د کولو ضرورت نشته. اوس پاتے شو د جسم اطلاق نو هغه به په خدائے باندے نۀ شی کولے د دے دپاره چه په شریعت کښں دا لفظ د خدائے په واسطه نۀ دے راغلے. دغه شان خو د جسم نه تنزیه د هغے هم څۀ اصل نشته

لَهُ أَنْ يَنَامَ يَخْفِضُ الْقِسْطَ وَيَرْفَعُهُ يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ حِجَابُهُ النُّورُ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ النَّارُ لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ عَنِ الْأَعْمَشِ وَلَمْ يَقُلْ حَدَّثَنَا

اندامو د ستړے کیدو د وجے نه راځی او خدائے تعالی پاک دے د ستړے والی نه دویمه دا چه اوده کیدل غفلت دے او په شان د مرګ دے او حق تعالی پاک دے دد دے نه، لاندے کوی تلے لره او پورته کوی هغے لره. او چتولے شی د شپے عمل د هغے په طرف د ورځے د عمل نه مخکښ او د ورځے عمل د شپے د عمل نه مخکښ د هغهٔ پرده نور دے. د ابوبکر په روایت کښې دی چه پرده د هغهٔ نور دے. کهٔ چرے هغه بیرته کړی دغه پردے لره. البته د هغے د خپلے شعاع ګانړے به اوسیزی مخلوق لره. تر کوم ځائے چه د هغے نظر رسی[1]

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ

د اعمش نه په دے شان سره روایت دے. مګر په دے کښې د پنځهٔ

---

[1] د بندیګانو د عملونو او رزقونو په تول کولو کښې. نووی رحمه الله وائی دا تمثیل دے د خدائے په میزان د تلو سره. په سراج الوهاج کښې دی چه دا تمثیل نهٔ دے بلکه حقیقتًا خدائے تعالی داسے کوی. او دا مذهب دے د سلفو په دے قسم ایتونو او احادیثو کښې او ورستو خلق د تمثیل قائل شوی دی چه د هغوی د خبرے څهٔ اعتبار نشته. یعنی په شپه کښې چه کوم د هغهٔ بندیګان نیک کار کوی هغه د شپے د تیریدو نه مخکښې په شپه شپه کښې خدائے پاک ته رسولے شی. د دے حدیث نه صفا دا خبره معلومیږی چه خدائے تعالی جهت فوق کښې دے. او دا مذهب دے د ائمه سلف رضی الله عنهم. نووی ویلی دی چه دا په لغت کښې آړ او رکاوټ ته ویلے شی. او دا شان دے د هغه اجسامو چه هغه محدود دے. او خدائے تعالی پاک دے د جسمیت او تحدید نه په دے صورت کښې د پردے نه مراد منع کونکے دے د هغهٔ د دیدار نه. یعنی نور د هغهٔ دلیدو مانع دے. خکه چه په نور سره سترګے بربنیږی. په سراج الوهاج کښې دی چه دد تاویل ضرورت نشته بلکه د سلفو دا قول دے چه کوم څهٔ په شریعت کښې راغلی دی هغه چلوه په هغه شان چه څنګه راغلی وی. او د هغے کیفیت نه بیانول او په هغے کښې تایل او تعطیل او تمثیل او تشبیه کول نهٔ دی پکار. د اردو کتاب مترجم وائی چه متاخرین لکه نوی او سیوطی او ابن حجر عسقلانی او ملا علی قاری او شیخ عبد الحق دهلوی رحمهما الله د ورستو متکلمینو تقلید کړے په دغه قسم ایتونو او احادیثو کښې اکثر داسے تاویلات کړی دی. چه هغه د سلفو د طریقے نه خلاف دی په دے حدیث کښې نے اوګوری د حجاب چه نے کوم تاویل کړے دے. هغه په دے بناء باندے چه حجاب شان دے د اجسامو حالانکه دا امر تر اوسه پورے په شریعت کښې ثابت شوے نهٔ دے چه خدائے تعالی د جسمیت نه پاک دے. بیا د نورو اثارو او لوازمو د جسمیت څهٔ ذکر دے د هغهٔ نګاه خو د ټول مخلوق پورے رسیږی. بیا کهٔ چرے هغه خپل حجاب اوچت کړی نو د هغهٔ د مخ د تجلی په مخکښې څهٔ نهٔ پاتے کیږی او ټول سوزی خاورے کیږی. نووی رحمه الله په دے مقام د ورستو متکلمینو د تقلید په وجه سره تاویل د خانه کړے دے او دا غلط دے د حق تعالی دپاره وجه او ید او عین، قدم وغیره ثابت دی د آیات او احادیثو نه. او سلفو په دے کښې د څهٔ قسم تاویل نهٔ دے کړے نهٔ تحریف بلکه تاویل طریقه ده. د جهمیه او مبتدعه او معتزله. خَذَلَهُمُ اللهُ تعالی او بعضے علمائے اهل سنت خدائے د په هغوی باندے رحم اوکړی. هغه هم په دے خطاوالی کښې نښتلی دی. هغه هم تاویل کوی او د سلف صالحینو طریقے نے هیرے کړی دی الله جل شانه د د هغوی خطا معاف کړی

اللهِ ﷺ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ وَلَمْ يَذْكُرْ مِنْ خَلْقِهِ وَقَالَ حِجَابُهُ النُّورُ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَرْبَعٍ إِنَّ اللهَ لاَ يَنَامُ وَلاَ يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَنَامَ يَرْفَعُ الْقِسْطَ وَيَخْفِضُهُ وَيُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ النَّهَارِ بِاللَّيْلِ وَعَمَلُ اللَّيْلِ بِالنَّهَارِ

خبرو په بدله څلور خبرے دی. او د مخلوق ذکر په کښې نشته او ویلی دی چه حجاب (یعنی پرده) د هغهٔ نور دے.

دابوموسیٰ ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ په ولاړے څلور خبرے بیان کړلے. داچه الله تعالیٰ نهٔ اُوده کیږی او نهٔ د هغهٔ لائق دی اوده کیدل پورته کوی تلے لره او ښکته کوی.اوپورته کولے شی دهغهٔ طرف ته دورځے عمل شپے ته اود شپے عمل ورځے ته

بَاب إِثْبَاتِ رُؤْيَةِ الْمُؤْمِنِينَ فِي الْآخِرَةِ رَبَّهُمْ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى

باب: د الله تعالیٰ د دیدار به مؤمنانو ته په آخرت کښ وی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلاَّ رِدَاءُ الْكِبْرِيَاءِ عَلَى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ

د عبد الله بن قیس ؓ (ابوموسیٰ اشعری ؓ) نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. دوه جنتو نه به د سپینو زرو وی. د هغے لوښی او ټول څیزونه به د سپینو زرو وی. او دوه جنتونه به د سروزرو وی د هغے لوښی او ټول څیزونه به د سروزرو وی. او خلقو ته به د خپل پروردګار په لیدو کښ څهٔ پرده نهٔ وی په جنت العدن کښ به سوا د یو لوئی د څادر نه چه هغه به د خدائے تعالیٰ په مخ باندے وی[1].

---

[1] بیا چه هر کله خدائے تعالیٰ هغه څادر لره د خپل مخ نه اوچت کړی. نو ټول مؤمنان به د هغهٔ مخ مبارک اووینی او د هغهٔ دیدار نه به دومره خوشحالی حاصلیږی چه د هغے حد نشته. نهٔ د هغے بیان کیدے شی. امام نووی رحمه الله ویلی دی د ټولو اهل سنتو مذهب داد ے چه دخدائے تعالیٰ لیدل ممکن دی محال نهٔ دی. او هغوی اتفاق کړے دے. په دے باندے چه په اخرت کښ به مؤمنان هغهٔ ته ګوری او کافران به ددغه نعمت نه محروم وی. او معتزله او خوارجو او بعضے مرجیو دا ګمان کړے دے. چه خدائے به د هغه په مخلوق کښ څوک نهٔ وینی بلکه د خدائے لیدل محال دی. او دا یو ښکاره خطا او قبیح جهل دے. د کتاب او سنت او اجماع صحابو او سلف امت نه دا امر ثابت دے چه په اخرت کښ به مؤمنانو ته د خدائے دیدار حاصلیږی. او دا حدیث تقریبًا شلو صحابو د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه روایت کړے دے او د قران ایتونه په دے باب کښ مشهور دی. او بدعتیانو چه کوم په هغوی باندے اعتراضونه کړی دی هغه هم د اهل سنتو د کلام په کتابونو کښ د جواب سره ذکر کړے شوی دی. او مونږ ته د هغے د بیانولو ضرورت نهٔ معلومیږی. لیکن په دنیا کښ د الله لیدل خو مونږ بیان کړه چه ممکن دی. خو د جمهور سلفو او خلفو دا قول دے چه په دنیا کښ به دیدار واقع نهٔ وی او امام ابوا القاسم قشیری رحمه الله د ابوبکر بن فورک نه نقل کړے دے. چه په دے مسئله کښ د امام ابو القاسم اشعری دوه قولونه دی یو خو دا چه په دینا کښ دخدائے دیدار واقع شوے دے. دویمه دا چه د هغے وقوع نهٔ دہ شوے. بیا د خاوندانو

عَنْ صُهَيْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ قَالَ يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ فَيَقُولُونَ أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ قَالَ فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ

د صهيب نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر كله چه جنتي جنت ته لاړ شي. هغه وخت به الله تعالى ورته اوفرمائي. تاسو نور څۀ زيات غواړئ؟ هغه به اووائي. ولے تا زمونږه مخونه سپين نۀ كړل مونږ له دِ جنت رانۀ كړو. اود جهنم نه دِ بچ نۀ كړو (اوس نور څۀ غوښتل پكار دي) بيا به پرده اوچته كړے شي په دغه وخت به جنتيانو ته څۀ څيز د هغے نه اوچت نۀ معلوميږي يعني د خپل

د حق مذهب داد ے چه رؤيت الهي (د الله ديدار) يو قوت دے. چه هغے لره به خدائے پاک په خپل مخلوق كښ پيدا كوي. او د هغے دپاره اتصال او مقابله وغيره ضروري نۀ ده. او زمونږ په ليدلو كښ دا خبرے اتفاقًا موندلے كيږي. نۀ دا چه د ليدلو شرط دے. او متكلمينو دد ے واضح دلائل ښۀ بيان كړي دي.او د الله تعالى د ديدار سره دا لازمه ۀ ده چه خدائے تعالى په يو جهت كښ وي. بلكه مؤمنان به هغۀ ته ګوري بغير د جهت نه لكه چه مني هغۀ لره بغير د جهت نه انتهى. مولانا ابوالطيب سلمه الله تعالى په سراج الوهاج كښ ليكلي دي. چه بدعتيانو چه كومے شبهے د خدائے تعالى په رؤيت كښ كړي دي. دد ے ټولو جوابات د دواړو امامانو په تصانيفو كښ موجود دي. (يعني امام حافظ شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله او امام حافظ شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله قدس هُما تصانيف)او مونږ هم هغے لره په خپلو بعضو كتابونو كښ بيان كړي دي. ليكن د الله تعالى ديدار په دنيا كښ خو ممكن دے خو واقع شوے نۀ دے يعني په بيدارئ كښ. البته په خوب كښ واقع شوے دے. لكه رياض المرتاض او تقصار كښ يو جماعت د علماؤ او انمو نه نقل كړے دے. يا الله ته مونږه په خپل ديدار باندے مشرف كړه او دا چه كوم نووي ويلي دي چه د خدائے ديدار به بغير د جهت نه كيږي لكه څنګه چه د هغۀ علم بے جهت نۀ دے. دا د متكلمينو طريق دے. او د اهل حديثو دا مسلك نۀ دے. د هغوي په نز خو دد ے قسم نصوصو لره په ظاهر معنى باندے ايخودل پكار دي بغير د تاويل او تعطيل نه. او په حديث صحيح كښ دا امر موجود دے. چه كوم خائے دے خدائے هغه تپوس اوكړو د وينځے نه. او په يو حديث كښ دي. چه هغه اشاره اوكړه په ګوتو سره د اسمان په طرف. دغه شان په دے باب كښ ډير ايتونه او احاديث دي چه د هغے نه د خدائے پاک اعلى شان او فوقيت على العرش او په اسمان كښ كيدل موندلے كيږي بيا دا قول د نووي رحمه الله د هغے سره څۀ مناسبت لري. الله تعالى دِ رحم اوكړي په هغه سړي باندے چه هغه انصاف كوي او په تاويل او تكليف باندے ورپسے نۀ وي. د اردو والا مترجم وائي چه خدائے تعالى لره بے جهت خيال كول دا د جهميه او مبتدعه او معتزلو عقيده ده. ګنې سلف علماء او اهل حديث خدائے لره ټول په جهتِ فوق كښ ګڼري. او د حنابله رحمهم الله دغه قول دے بيا چه هر كله خدائے تعالى په يو جهت كښ شو نو د هغۀ ليدل هم په يو جهت كښ كيدے شي. او متكلمينو چه يو رؤيت بلا جهت مكان ويستلے دے دا په حقيقت كښ نفي رؤيت دے. او د هغو په عقيده كښ په غوره كولو سره څۀ فرق نۀ راأوځي. ولے چه د رؤيت نه منكرو هغه رؤيت نفي كړے دے. كوم چه ظاهر او متعارف دے يعني د يو څيز مخے ته كيدل په يو مكان كښ كيدل په ليدونكي او مرئي كښ يو شان د نسبت مقابله د تاويلاتو كيدل د مرئي يو جهت كيدل د رائي نه نۀ د هغۀ رؤيت چه هغے لره متكلمينو اختراع كړے دے دغه رنګ متكلمينو ډيرے مسئلے داسے قسم كړي دي. چه هغه په حقيقت كښ د نصوصو انكار دے. خدائے د هغوي خطا معاف كړي. او مونږ دد ے نه مسئلے د استواء لره په خپل كتاب الانتهاء في الاستواء كښ بيان كړے ده.

مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى

پروردګار په طرف د کتلو نه

عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ

د حمّاد بن سلمه نه په دغه اسناد سره دا حدیث مروی دے. دومره زیات دے. چه بیا هغه دا ایات اولوستو چه یعنی د نیکو په واسطه نیکی ده. او زیاته (د زیاتے نه مرد دیدار الٰهی دے چه هغه به د ټولو نعمتونو نه زیاته مزه اوخوند ورکوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ نَاسًا قَالُوا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ هَلْ تُضَارُّونَ فِي الشَّمْسِ لَيْسَ دُونَهَا سَحَابٌ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَإِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذَلِكَ يَجْمَعُ اللَّهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْهُ فَيَتَّبِعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الشَّمْسَ الشَّمْسَ وَيَتَّبِعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الْقَمَرَ الْقَمَرَ وَيَتَّبِعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الطَّوَاغِيتَ الطَّوَاغِيتَ وَتَبْقَى هَذِهِ الْأُمَّةُ فِيهَا مُنَافِقُوهَا فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي صُورَةٍ غَيْرِ صُورَتِهِ الَّتِي يَعْرِفُونَ فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُولُونَ نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا فَإِذَا جَاءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ تَعَالَى فِي صُورَتِهِ الَّتِي يَعْرِفُونَ فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُولُونَ أَنْتَ رَبُّنَا فَيَتَّبِعُونَهُ وَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ فَأَكُونُ أَنَا وَأُمَّتِي أَوَّلَ

د ابو هریره نه روایت دے څه خلقو رسول الله ﷺ ته اووے. ولے مونږ به خپل پروردګار لره اووینو د قیامت په ورځ رسول الله ﷺ اوفرمائیل ولے تاسو یو بل ته تکلیف ورکوئ د څوارلسمے شپے د سپوږمئ په لیدو کښ؟ (یعنی د ګنړے د وجے نه) یا تاسو ته څه تکلیف وی د څوارلسمے شپے د میاشتے په لیدو کښ؟ خلقو اووے نه یا رسول الله ﷺ. حضرت اوفرمائیل. تاسو ته څه مشقت وی یا یو بل ته تکلیف رسوئ د نمر په لیدو کښ. په هغه وخت چه وریخ نه وی؟ (او اسمان صفا وی) خلقو اووے نه حضرت اوفرمائیل. بیا په دے شان (یعنی بغیر د تکلیف او مشقت او زحمت او ګنړے نه) به تاسو خپل پروردګار لره اووینئ؟ حق تعالی به خلقو لره د قیامت په ورځ جمع کړی نو ورته به اوفرمائی. چا چه د څه شی عبادت کوو د هغه سره شئ. بیا چه چا د نمر عبادت کوو هغه به د نمر سره وی. او چا چه د سپوږمئ عبادت کوو هغه به د سپوږمئ سره او چا چه د طاغوت عبادت کوو هغه به د طاغوت سره شی. او دا امت د محمد به باقی پاتے شی. او په دے کښ به منافقان خلق هم وی. بیا به الله تعالی هغوی ته راشی په داسے صورت چه هغه به هغوی نه پیژنی او اُوبه وائی چه زهٔ ستاسو پروردګار یمه. هغه به اووائی پناه غوارو مونږ ستا نه. او مونږ په دے

مَنْ يُجِيزُ وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ إِلَّا الرُّسُلُ وَدَعْوَى الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اَللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ وَ فِيْ جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ هَلْ رَأَيْتُمُ السَّعْدَانَ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَإِنَّهَا مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَعْلَمُ مَا قَدْرُ عِظَمِهَا إِلَّا اللهُ تَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ فَمِنْهُمُ الْمُؤْمِنُ بَقِيَ بِعَمَلِهِ وَمِنْهُمُ الْمُجَازَى حَتّٰى يُنَجّٰى حَتّٰى إِذَا فَرَغَ اللهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ الْعِبَادِ وَأَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ بِرَحْمَتِهِ مَنْ أَرَادَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ أَمَرَ الْمَلَائِكَةَ أَنْ يُخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا مِمَّنْ أَرَادَ اللهُ تَعَالٰى أَنْ يَرْحَمَهُ مِمَّنْ يَقُولُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ فَيَعْرِفُونَهُمْ فِي النَّارِ يَعْرِفُونَهُمْ بِأَثَرِ السُّجُودِ تَأْكُلُ النَّارُ مِنَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا أَثَرَ السُّجُودِ حَرَّمَ اللهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُودِ فَيُخْرَجُونَ مِنَ النَّارِ وَقَدِ امْتَحَشُوا فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءُ الْحَيَاةِ فَيَنْبُتُونَ مِنْهُ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ ثُمَّ يَفْرُغُ اللهُ تَعَالٰى مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ الْعِبَادِ وَيَبْقَى رَجُلٌ مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ عَلَى النَّارِ وَهُوَ

جائے ولاړ يو تر هغې پورے چه زمونږ پروردګار به راشي. نو مونږ به هغه اوپيژنو . بيا به الله تعالى هغوى ته راشي. او اوبه وائى زهٔ ستاسو رب يم هغه به اووائى ته زمونږ رب ئے. بيا به د هغهٔ سره شي. او د دوزخ په شا به پُل كيښودے شي. زهٔ او ځما امت به د تولو نه مخکښې پورے اوځو. او سوا د پيغمبرانو نه نور به څوک په دغه ورځ باندے خبرې نهٔ شي کولے. او د پيغمبرانو وينا به په دغه وخت دا وي يا الله مونږ بچ کړه (دا د شفقت په لاړ سره به وائي او په خلق باندے)او په دوزخ کښې کُنډے دي (د وسپنے چه د هغے سَر کوږ وي او په تنور کښې چه غوښه کله غورځوي نو په کُنډو کښې ئے ورغورځوي) لکه د سعدان ازغي (سعدان د ازغو يوه ونه)حضرت صحابو ته اوفرمائيل . تاسو تعدان ليدلے دے؟ هغوى اووے آو. ليدلے دے . يا رسول الله . حضرت اوفرمائيل. پس هغه کُنډے د سعدان د ازغو په شکل وي. (يعني کږو سُوکو والا) خو په دے څوك نهٔ دى پوهه سوا د الله نه چه هغه کُنډے به څومره لوئے وي. هغه خلقو لره په دوزخ کښې په زور راکاږي. (يعني فرښتے به په هغه کُنډو سره راکاږي دوزخيانو لره) د هغو بدو عملونو په وجه سره. اوس به بعضے په هغوى کښې مومنان وي. چه هغه به بچ کيږي د خپل عمل په سبب سره. او بعضے به د هغوى نه بدله ورکوى د عمل خپل تر دے پورے چه هر کله الله پاک د خپلو بنديګانو د فيصلے نه فراغت اومومي. او اوغواړي چه رااوکاږم د دوزخ والو نه په خپل رحمت سره چه غواړي هغهٔ لره نو فرښتو ته به حکم اوکړي. رااوباسئ د دوزخ نه هغه چا لره چه هغوى د خدائے سره څوک شريک کړے نهٔ وي. په هغوى باندے خُائے رحمت کول غواړي چه هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله وائى. نو فرښتے به په دوزخ کښې داسے خلقو لره پيژني. او هغوى به پيژني د سجدے د نخښو نه اُور سرى لره

آخِرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولاً الْجَنَّةَ فَيَقُولُ
أَيْ رَبِّ اصْرِفْ وَجْهِي عَنِ النَّارِ فَإِنَّهُ
قَدْ قَشَبَنِي رِيحُهَا وَأَحْرَقَنِي ذَكَاؤُهَا
فَيَدْعُو اللهَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَدْعُوَهُ ثُمَّ
يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى هَلْ عَسَيْتَ
إِنْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ بِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَهُ
فَيَقُولُ لاَ أَسْأَلُكَ غَيْرَهُ وَيُعْطِي رَبَّهُ مِنْ
عُهُودٍ وَمَوَاثِيقَ مَا شَاءَ اللهُ فَيَصْرِفُ
اللهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ فَإِذَا أَقْبَلَ عَلَى
الْجَنَّةِ وَرَآهَا سَكَتَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ
يَسْكُتَ ثُمَّ يَقُولُ أَيْ رَبِّ قَدِّمْنِي إِلَى
بَابِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ اللهُ لَهُ أَلَيْسَ قَدْ
أَعْطَيْتَ عُهُودَكَ وَمَوَاثِيقَكَ لاَ
تَسْأَلُنِي غَيْرَ الَّذِي أَعْطَيْتُكَ وَيْلَكَ يَا
ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ
وَيَدْعُو اللهَ حَتَّى يَقُولَ لَهُ فَهَلْ
عَسَيْتَ إِنْ أَعْطَيْتُكَ ذٰلِكَ أَنْ تَسْأَلَ
غَيْرَهُ فَيَقُولُ لاَ وَعِزَّتِكَ فَيُعْطِي رَبَّهُ مَا
شَاءَ اللهُ مِنْ عُهُودٍ وَمَوَاثِيقَ فَيُقَدِّمُهُ
إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَإِذَا قَامَ عَلَى بَابِ
الْجَنَّةِ انْفَهَقَتْ لَهُ الْجَنَّةُ فَرَأَى مَا فِيهَا
مِنَ الْخَيْرِ وَالسُّرُورِ فَيَسْكُتُ مَا شَاءَ
اللهُ أَنْ يَسْكُتَ ثُمَّ يَقُولُ أَيْ رَبِّ

سوزوی مګر د سجدے نخښو لره چه خدائے تعالیٰ د هغے سیزلو به اور باندے حرام کړی دی بیا به هغه د دوزخ نه رالویستلے شی. وریته شوی سیزلی شوی هر کله چه به هغوی باندے اب حیات لونوستلے شی. هغه به تروتازه دلسے راپلسی لکه چه راخیژی خنګلی تخمونه په راوړلے شوی سیلاب کښ او بڼه چه کوم خانے ته خزله خاوره په بهیدو کښ راوړی هلته دا نه بنه راخیژی او زر مزیداره او شنه کیږی. د غه شان به هغه جهنمی هم د اب حیات اچولو سره تازه شی او د سوزیدو نخښے به تر نه بالکل ختم شی، ددے نه پس به الله تعالیٰ د خپلو بندیګانو د فیصلے نه فراغت کوی او یو سړے به باقی پاتے شی. چه د هغه مخ به د دوزخ په طرف وی او دے به په جنتیانو کښ روان وی. هغه به سوال اوکړی اے خما ربه خما مخ د جهنم د طرف نه واړه وه. د هغے راګیرولو زه سیزلے یم بیا به د خدائے نه دُعا کوی. هر کله چه خدائے تعالیٰ ته منظوره شی وروستو د هغے نه به ورته الله تعالیٰ اوفرمائی. کۀ چرے زۀ ستا دا سوال پوره کړم نو تۀ به بل سوال کوے. هغه به اووائی نه زۀ به بیا څۀ سوال نۀ کوم. او څنګه چه خدائے ته منظوره وی هغه به قول اقرار اوکړی بیا به الله تعالیٰ د هغه مخ د دوزخ د طرفنه واړه وی (د جنت طرفته) هر کله چه جنت طرفته د هغۀ مخ شی نو چُپ به وی. د کومے پورے چه خدائے ته مظوره وی بیا به اووائی. اے ربه ما د جنت دروازے ته اورسوه. الله پاک به ورته اوفرمائی تا څۀ څۀ قول او اقرار کړے وو. چه زۀ به بیا دویم سوال نۀ کوم. بد دِ وی ستا اے بنده تۀ څومره دهوکه باز یے. هغه به اووائی اے ربه لو. دُعا به کوی د هغے پورے چه پروردګار به ورته اوفرمائی. ښه ده کۀ زۀ ستا دا سوال پوره کړم نو بیا به تۀ نور څۀ غواړے. هغه به اووائی نه قسم دے ستا د عزت او څۀ څۀ قولو نه او اقرار به اوکړی څنګ چه اللّٰہ ته

أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ فَيَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَ
تَعَالَى لَهُ أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ عُهُودَكَ وَ
مَوَاثِيقَكَ أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ مَا أُعْطِيتَ
وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ فَيَقُولُ أَيْ
رَبِّ لَا أَكُونُ أَشْقَى خَلْقِكَ فَلَا يَزَالُ
يَدْعُو اللهَ حَتَّى يَضْحَكَ اللهُ تَبَارَكَ
وَ تَعَالَى مِنْهُ فَإِذَا ضَحِكَ اللهُ مِنْهُ قَالَ
ادْخُلِ الْجَنَّةَ فَإِذَا دَخَلَهَا قَالَ اللهُ لَهُ
تَمَنَّهْ فَيَسْأَلُ رَبَّهُ وَ يَتَمَنَّى حَتَّى إِنَّ
اللهَ لَيُذَكِّرُهُ مِنْ كَذَا وَكَذَا حَتَّى إِذَا
انْقَطَعَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ قَالَ اللهُ تَعَالَى
ذٰلِكَ لَكَ وَ مِثْلُهُ مَعَهُ قَالَ عَطَاءُ بْنُ
يَزِيدَ وَأَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ مَعَ أَبِي
هُرَيْرَةَ لَا يَرُدُّ عَلَيْهِ مِنْ حَدِيثِهِ شَيْئًا
حَتَّى إِذَا حَدَّثَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَّ اللهَ قَالَ
لِذٰلِكَ الرَّجُلِ وَمِثْلُهُ مَعَهُ قَالَ أَبُو
سَعِيدٍ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ مَعَهُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ
قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ مَا حَفِظْتُ إِلَّا قَوْلَهُ
ذٰلِكَ لَكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ
أَشْهَدُ أَنِّي حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْلَهُ ذٰلِكَ لَكَ وَعَشَرَةُ
أَمْثَالِهِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَذٰلِكَ الرَّجُلُ
آخِرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ

منظوره وی آخر به الله تعالی هغهٔ لره د جنت دروازے ته اورسوی هر کله چه هلته ولاړوی نو ټول جنت به دهٔ ته ښکاریږی او کوم څهٔ چه په هغے کښې نعمت یا خوشحالی او راحت دے هغه ټول به ورته ښکاری بیا به د یوے مودے پورے د کومے پورے چه خدائے ته منظوره وی هغه به چُپ وی ددے نه پس به عرض اوکړی اے ربه! ما جنت ته دننه بوځه الله تعالی به ورته اوفرمائی. تا څهٔ اقرار کړے وو تا خو ویلی وو چه اوس به زهٔ څهٔ سوال نهٔ کوم. بد دِ وی ستا اے د آدم خویه څومره مکاریے. هغه به عرض اوکړی. اے څما ربه! زهٔ ستا په مخلوق کښې د بد نصیب نهٔ کیدو. نوره دعا به غواړی ترد ے پورے چه الله جل شانه به مسکے شی. او هر کله چه خدائے تعالی مسکے کیږی نو اویه فرمائی ښه ده څه جنت ته. هر کله چه هغه جنت ته دننه ځی نو خدائے تعالی به هغهٔ ته فرمائی. اوس چه ته څهٔ ارزو کوے هغه کولے شے او غوښتلے شے. ترد ے پورے چه الله تعالی به ئے هغهٔ ته یاده وی. چه فلانے څیز اوغواړه فلانے څیز اوغواړه. هر کله چه د هغهٔ ارزو ګانے ختم شی نو حق تعالی به ورته اوفرمائی. مونږ دا ټول تاله درکړو او ددۀ ے سره دومره نور درکړم (یعنی ستا د خواهشاتو نه دوچند واخله سبحان الله څومره کرم او رحمت دے د الله تعالی په خپلو بندیګانو باندے او چه هغه کوم نهٔ کوی نو نور به ئے څوک کوی. دغه مالک دے دغه خالق دے دغه رازق دے دغه پالونکے دے) عطاء بن یزید ویلی دی کوم چه ددے حدیث راوی دے. چه ابوسعید خدری ؓ هم ددے حدیث په روایت کولو کښې د ابوهریره ؓ موافق وو. چرته خلاف نهٔ وو. خو ابوهریره ؓ چه هر کله دا اووے چه الله تعالی به هغهٔ ته اوفرمائی مونږ دا ټول تاله درکړل او دومره به نور درکړم. نو ابو سعید ؓ اووے لس حصے به زیاتے درکړم ابو هریره ؓ اووے چه ماته

خو دا خبره ياده ده چه رسول الله ﷺ اوفرمايل چه مونږ دا ټول تالره درکړو او دومره به نور درکړو. ابوسعيد وائي زۀ ګواهي ورکوم چه رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي چه مونږ دا ټول تاله درکړل اولس حصے به زياتے درکړم. ابوهريره ويلي دي دا هغه سړے دے چه د ټولو نه به په اخر کښ جنت ته ځي (نو نورو جنتيانو ته معلومه نۀ ده چه به څۀ څۀ نعمتونه ملاويږي)[1]

[1] دا تشبيهه ده د ليدلو نمر لره د خدائے پاک د ليدلو سره. نۀ تشبيهه د نمر د خدائے سره. ولے چه نمر يو مخلوق دے. په څۀ خبره کښ د خالق په مثل نۀ شي کيدے. الله تعالى فرمائي لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْئٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ دهغه مساوي څۀ څيز نشته. او هغه اوريويني. مقصود داد ے چه د خدائے په ديدار کښ به د څۀ قسم ګنړه نۀ معلوميږي. نۀ به په ليدونکي باندے يو بله ور غورځيګي نه به کومه صدمه او پريشاني وي. بلکه هر يو به په خپل ځائے باندے دکمال فراغت او راحت سره خدائے پاک لره ويني. لکه څنګه چه په دنيا کښ د څوارلسمے شپے د مياشتے په ليدو کښ. يا د نمر په ليدو کښ څۀ تکليف نۀ وي. طاغوت ويلے شي هغه څيز ته د کوم څيز چه عبادت کولے شي سوا د خدائے نه. دا قول دے د ليث او ابو عبيد او کسائي او د جمهور اهل لغت. او ابن عباس او مقاتل او کلبي وغيرهم ويلي دي چه طاغوت شيطان ته ويلے شي. او بعضو ويلي دي بُت ته (نووي). په السراج الوهاج کښ دي چه ورمبے معنى ښۀ ده او هغه شامله ده د اولياؤ او نبياء په قبر پرستو پورے او د ګمراه درويشانو او عالمانو په تابعداري کونکو پورے. (کله چه هغه د هغوي تقليد دخدائے او د رسول په ارشاد مقدم کوي او ټولو مشرکينو او مبتدعينو لره. منافقان به مؤمنانو کښ شريک کوي ځکه چه په دنيا کښ په ظاهر د مؤمنانو کښ شريک وو. او خپل ځان ئے د ايمان په قالب کښ پټ کړي نو هلته به هم د مؤمنانو سره ملاويږي او د هغوي سره به ځي. د هغوي د رڼړا نه به فائده اوچتوي. تردے پورے چه د هغو او د مؤمنانو په مينځ کښ به يوه ولاړه راشي. د هغے دننه به رحمت وي. او د مخے نه به عذاب معلوميږي. بس منافق به تر نه جدا شي. او د مومنانو رڼړا به د هغوي نه خمته شي. او بعضو ويلي دي چه دا خلق به د حوض نه شړلے کيږي. او هغوي ته به ويلے شي لرے شئ لرے شئ (نووي). دا معرفت د حق سبحانه وتعالى يا خو به په دے شان سره وي چه خدائے تعالى به په خپل قدرت کامله سره د هر مؤمن په زړۀ کښ خپل جمال په دے شان ذهن نشين کړي. چه هغه به ورمبے صورت لره د خدائے د صورت نه بدل او جُدا ګڼړي. يا دا معرفت به د هغه صفاتو د وجے نه وي. کوم چه خدائے تعالى د خپل ځان دپاره بيان کړي دي. چه هغه دچا مثل نۀ دي د هغۀ برابر څوک نشته او هغه پاک دے د هر عيب نه بيا چه کله ورمبے صورت ښکاره شي. نو هغه دد ے صفاتو نه خالي وي. ځکه مومنان به هغے ته خدائے نه وائي. هر کله چه خدائے به خپل اصلي صورت کښ ظاهر شي. نو هغه به په ټولو صفات مُقدسو باندے مشتمل وي. اومؤمنان به هغه اوپيږني او خپل خدائے به ئے اومني او د هغۀ سره به شي. په دے حديث کښ د خدائے دپاره څو خبرے ثابتے شوے دي. يو خو صورت دويم راتلل دريم خندل څلورم خبرے کول. او د علماء اهل سنت دد ے قسم په ايتونو او حديثونو کښ دوه مذهبه دي. يو حق دے. او يو خطا. حق هغه دے چه هغه د اکثرو سلفو قول دے بلکه د ټولو چه د هغے په معانو کښ زياتے خبرے کول نۀ دي پکار بلکه په هغے ايمان راوړل پکار دي. او د هغے ظاهرو معنو لره قبلول پکار دي. او په څۀ شان چه دا ايتونه او حديثونه راغلي دي. په هغه شان څلول پکار دي. او داسے اعتقاد ساتل پکار دي. چه هغه خدائے د لويئ او جلال لائق دے. او دا ګنړل پکار دي. چه د خدائے په مثل څۀ شے نشته او دا قول د دويم جماعت د متکلمينو هم

دے چه هغه محققین دی او په دی کښ سلامتی ده د هر یو آفت نه او په دے باندے تلی دی د ټول امت سلف او امام او په دے باب کښ لوئے بنهٔ کتاب "کتاب الجوائز والصلات" دے د سید ابوالخیر طیب قنوجی. شیخ محمد دبن محسن عطاس په کتاب تنزیه الذات والصفات کښ د خدائے د راتلو په بحث کښ لیکلی دی چه الله تعالی فرمایلی دی هغه منتظر دی د خدائے د راتلو د وریځے په سوری کښ اوفرمائی راغے ستا رب راغلے ستاسو رب. او د صفاتو په باب کښ زمونږ قول دادے چه مونږ ایمان راوړے دے په هغه باندے او د هغه په وجود پوهه یُو. او څهٔ قدرے هغه لره پیژنو خو نهٔ د هغهٔ کیفیت بیانوو نهٔ مثال نهٔ مشابهت ورکوو نهٔ هغه لره بے کاره کوو او د سلفو پښان دا وایو ایمان راوړے دے مونږه په الله باندی د الله د مراد موافق. او د هغهٔ په مثل څهٔ څیز نشته بیانے بیان نے کړو هر یو صفت لکه استواء اوعلو او وجه او یمین او کف او نفس او عین او ید او اصبع او شمال قدم او رجل او نزول او کالم او قول او رُونیت اوښکاره کیدل د پنډئ او فوق او د حقو او دلیل راغلے په دے د اَیتونو او احادیثو نه. او قوی نے کړو د سلفو مذهب لره او رد نے کړو هغه تاویل لره کوم چه متکلمینو کړے دے. او چه په هغے باندے ورستنی خلق تلی دی او خطا هغه دے چه هغه اکثر د متکلمینو مذهب دے. یعنی دهغوی تاویل کول پکار دی د هرے یوے موقعے په موافق څنګه چه هغه په دے حدیث کښ وائی. چه د راتلو نه مراد دادے چه مؤمنان به هغهٔ لره وینی او دا د راتلو معانے مجازی دی. یا ددے نه د فرښتو راتلل مقصود دی. قاضی عیاض ویلی دی چه زمونږ په نزد دا معنی بهتره ده حالانکه دا معنی غلطه ده د اهل حق په نزد او حاصل دادے چه دا به د مؤمنانو اخیر امتحان وی بیا چه هر کله هغه دوی ته اووائی زهٔ ستاسو رب وم. نو دوی به انکار کوی او د هغهٔ نه به پناه غواړی بیا به الله جل جلاله په خپل هغه صورت باندے تجلی اوکړی په کوم شان چه مؤمنان هغه لره پیژنی. او په کومو صفاتو چه هغه لره پیژندے شی اګر چه مخکښې به نے خدائے لیدلے نهٔ وی. خو د هغهٔ د صفاتو نه به هغهٔ لره پیژندلے شی. چه دا زمونږه رب دے اووانی به تهٔ زمونږه رب نے خطابی ویلی دی کیدے شی چه پناه غوښتل خاص د منافقانو فعل وی او قاضی عیاض دد انکار کړے دے نووی ویلی دی د قاضی عیاض قول صحیح دے او د ظاهر حدیث نه دغه وتلے دے چه انکار به د منافقینو سره خاص کیږی نه او د هغه سره د کیدو دا غرض دے چه دهغهٔ د حکم تابعداری کوی. او جنت ته به خی. یا به د هغهٔ د فرښتو سره شی او جنت ته به خی. او دا هم یو قسم تاویل دے چه د هغے څهٔ ضرورت نشته (السراج الوهاج). کوم ته چه خلق پُل صراط وائی. او خاوندانو د حق هغے لره ثابت کړے دے. او سلفو په هغے باندے اجماع کړے ده. او هغه یو پل دے د جهنم د پاسه خو ټولو خلقو لره به په هغے باندے تیریدل وی نو مؤمنان به د خپلے خپلے درجے په موافق په هغے باندے تیریږی. او کافران به د هغے نه غورځیږی او جهنم ته به خی. الله تعالی د مونږ لره بچ کړی او زمونږ د اصحاب سلف نه منقول دے چه دا پل د ویخته نه زیات نرے او د تُورے نه زیات تیره دی. لکه چه د ابو سعید خدری نه روایت دے د نورو پیغمبرانو وینا یعنی د پُل نه د تیریدو په وخت په وجه د خوف او یرے چه د قیامت په ورځ او وخت خو خلق خبرے کوی او مُریدان به د خپلو باطلو پیرانو سره جنګ کوی (نووی). په حدیث کښ دادے فَمِنهُمُ الْمُؤمِنُ بَقِيَ بِعَمَلِهِ. ددے ترجمه داده. کومه چه بیان شوه. او په بعضو نسخو کښ داسے دی. اَلْمُوْثَقُ بِعَمَلِهِ یعنی بعضے به د هغوی نه راخکلے کیږی د خپل عمل په وجه سره. او په بعضے نسخو کښ دادی اَلْمُوبَقُ بِعَمَلِهِ یعنی بعضے د دوی نه خو به هلاکیږی په خپل عمل سره. او په بعضے نسخو کښ داسے دی فَمِنهُمُ الْمُؤمِنُ بَقِيَ بِعَمَلِهِ یعنی بعضے د هغوی نه به مؤمنان وی چه هغه به باقی پاتے شی. (د راښکودونه) د خپل عمل په وجه سره نووی ویلی دی زمونږ په ښار کښ په اکثرو نسخو کښ دغه شان دی دا ترجمه ده د مجازی لکه چه په حدیث کښ تیره شوه. او په بعضے نسخو کښ مُخزول دے. یعنی پریکولے به شی دهغهٔ غوښے یا به غورځولے شی. او په بعضے نسخو کښ مجرول دے یعنی هلاکت ته نزدے نووی وائی د ظاهر حدیث نه دا خبره وتلے شی. چه د جهنم اُور به د سجدے اُوو اندامونو لره نهٔ شی سیزلے چه هغے لره بنده د سجدے په حالت کښ په زمکه باندے لګوی یعنی مخ او دواړه لاسونه او دواړه زنګونان او دواړ خپے او دغه شان ویلی دی

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَدْنَى مَقْعَدِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ أَنْ يَقُولَ لَهُ تَمَنَّ فَيَتَمَنَّى وَيَتَمَنَّى فَيَقُولُ لَهُ هَلْ تَمَنَّيْتَ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيَقُولُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ

د همّام بن منبّه نه روایت دے د اهغه حدیثو نه دي چه بیان کړي دي مونږ ته ابوهریره د رسول الله ﷺ نه او بیان ئے کړه څو حدیثو نو لره د هغې نه یو دا وو چه فرمایلي دي رسول الله ﷺ چه د ټولو نه دکمې درجې والاجنتي به ستاسو نه هغه وي چه هغهٔ ته به اوویلے شي آیا نورے آرزوګانې لرے هغه به ارزو کوي او ارزو به کوي بیا به هغهٔ ته اوویلے شي ارزو اوکړه. هغه به اووائي آو. پس الله تعالی به هغه ته او فرمائي تاله به دا ټولے ارزوګانې درکړم او دومره نورے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ نَاسًا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ قَالَ هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ بِالظَّهِيرَةِ صَحْوًا لَيْسَ مَعَهَا سَحَابٌ وَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ صَحْوًا لَيْسَ فِيهَا سَحَابٌ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ مَا تُضَارُّونَ

د ابوسعید خدريؓ نه روایت دے. څهٔ خلقو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې اووے یا رسول الله ﷺ! ولې مونږ به اووینو خپل پردګار لره د قیامت په ورځ؟ هغهٔ اوفرمایل. آو. اوبه وینئ؛ تاسو ته څهٔ تکلیف وي د نمر په لیدو کښې د غرمې په وخت هر کله چه کهلاو وي او وریځ نهٔ وي؟ تاو ته څهٔ تکلیف وي د سپوږمۍ په لیدو کښې د څوارلسمې شپې هر کله چه کهولاؤ وي او وریځ نهٔ وي؟ هغوی اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل. تاسو ته به دومره تکلیف وي د الله تعالی په لیدو کښې د قیامت په ورځ څومره چه د سپوږمۍ او د نمر په لیدو کښې وي. هر کله چه د قیامت ورځ شي نو یو آواز کونکے به آواز اوکړي چه هر یو ګروه یو خائے شيء د خپلو

بعضے علماؤ. او قاضي عیاضؒ د دے نه انکار کړے دے. او ویلي ئے دي چه د سجدې د نخښنو نه صرف تندے مراد دے. لیکن وړمبے قول مختار دے. اوس کهٔ څوک دا وائي چه مسلمؒ مخکښې پخپله روایت کړے دے. چه بعضے خلق به د جهنم نه راووځي بالکل سیزلي شوي سواد مخ نه. نو دهغے جواب دا دے. چه دا به څهٔ خاص خلق وي.لیکن سوا د هغوی نه به نور د ټولو اندامونه د سجدے سالم وي. په نظر عموم د دے حدیث او هغه حدیث خاص دے د هغه خلقو سره (انتهی). نوويؒ ویلي دي د خدائے د خندا نه دهغهٔ راضي کیدل مقصود دي او د خپل نعمت ظاهرول او دا تاویل غلط دے. او نوويؒ د ورستو متکلمینو په تقلید سره دے لره لیکلے دے. او اصل دا دے لکه چه سمع او بصر او کالم وغیره د الله جل سبحانه صفات دي. او هغه محمول دي په خپلو حقیقي معنو باندے دغه شان ضحک یعني خندل هم د هغهٔ د صفتونو نه یو صفت دے. او لکه څنګه چه د خدائے اوریدل اولیدل او خبرے کول د مخلوق اوریدلو او لیدلو او خبرو کولو پشان نهٔ دي. او هغه پاک دے په خپل ذات او صفات کښې د مخلوق د مشابهت نه دا اعتقاد دے د صحابو او تابعینو او د سلف ائمو او د علماؤ حق لکه چه څو واره پورته تیر شول.

فِي رُؤْيَةِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ
إِلاَّ كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا إِذَا
كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ لِيَتَّبِعْ كُلُّ
أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ فَلاَ يَبْقَى أَحَدٌ كَانَ
يَعْبُدُ غَيْرَ اللهِ سُبْحَانَهُ مِنَ الأَصْنَامِ
وَالأَنْصَابِ إِلاَّ يَتَسَاقَطُونَ فِي النَّارِ
حَتَّى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلاَّ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ
مِنْ بَرٍّ وَفَاجِرٍ وَغُبَّرِ أَهْلِ الْكِتَابِ
فَيُدْعَى الْيَهُودُ فَيُقَالُ لَهُمْ مَا كُنْتُمْ
تَعْبُدُونَ قَالُوا كُنَّا نَعْبُدُ عُزَيْرَ ابْنَ اللهِ
فَيُقَالُ كَذَبْتُمْ مَا اتَّخَذَ اللهُ مِنْ صَاحِبَةٍ
وَلاَ وَلَدٍ فَمَاذَا تَبْغُونَ قَالُوا عَطِشْنَا يَا
رَبَّنَا فَاسْقِنَا فَيُشَارُ إِلَيْهِمْ أَلاَ تَرِدُونَ
فَيُحْشَرُونَ إِلَى النَّارِ كَأَنَّهَا سَرَابٌ
يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيَتَسَاقَطُونَ فِي
النَّارِ ثُمَّ يُدْعَى النَّصَارَى فَيُقَالُ لَهُمْ مَا
كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ قَالُوا كُنَّا نَعْبُدُ الْمَسِيحَ
ابْنَ اللهِ فَيُقَالُ لَهُمْ كَذَبْتُمْ مَا اتَّخَذَ اللهُ
مِنْ صَاحِبَةٍ وَلاَ وَلَدٍ فَيُقَالُ لَهُمْ مَاذَا
تَبْغُونَ فَيَقُولُونَ عَطِشْنَا يَا رَبَّنَا فَاسْقِنَا
قَالَ فَيُشَارُ إِلَيْهِمْ أَلاَ تَرِدُونَ فَيُحْشَرُونَ
إِلَى جَهَنَّمَ كَأَنَّهَا سَرَابٌ يَحْطِمُ بَعْضُهَا
بَعْضًا فَيَتَسَاقَطُونَ فِي النَّارِ حَتَّى إِذَا لَمْ

خپلو معبودانو سره بیا چه څومره خلق سوا د خدائےؒ نه د بل چا عبادت کوی لکه د بوتانو لو نصب کړے شوی بوتان لره په هغوی کښ به څوک نه بچ کیږی او ټول نه ټول به په دوزخ کښ غورځیږی او باقی به پاتے شی هغه خلق چه هغه د الله عبادت کوی که نیک وی یا بد د مسلمانانو نه او څه د اهل کتابونه بیا به یهودیان را اوغوښتلے شی لو هغو ته به اوویلی شی. تاسو د چا عبادت کولو؟ هغه به اووائی مونږ عبادت کوو د حضرت عزیرؑ چه هغه د الله خوئ وو هغوی ته به جواب ملاو شی. تاسو دروغ ویلو الله جل شانه نه څوک بی بی نیولے ده او نه هغۀ خوئے. اوس تاسو څۀ غواړئ؟ هغه به اووائی ای ربه زمونږ! مونږ تږی یو په مونږ باندے اُوبۀ اوڅکوه. حکم به اوشی لاړ شئ او څکئ بیا به هغه راښکو دے شی د جهنم طرفته هغوی ته به داسے معلومیږی لکه سراب او هغه به داسے شغلے وهی لکه چه بل لره یو خوری او هغه به ټول اوغورځیږی په اُور کښ دد ے نه پس به نصرٰی را اوبللے شی. او د هغوی نه به سوال اوشی چه تاسو د چا عبادت کوو؟ هغه به اووائی چه مونږ عبادت کوو د حضر مسیحؑ چه د الله خوئ دے. هغوی ته به جواب ملاؤ شی. چه تاسو دروغجن یئ. د الله جل جلاله نه څوک ښځه شته او نۀ د هغۀ خوئ شته دے. بیا به هغوی ته اوویلے شی اوس تاسو څۀ غواړئ؛ هغه به اووائی اے ربه! مونږه تږی یو په مونږ باندے اُوبۀ اوڅکوه. حکم به اوشی څئ! بیا هغه ټول به په منډو زغلی د جهنم طرفته لکه چه هغه سراب وی او د رانیوو د یرے نه به هغه خپل پخپله یو لره خوری بیا به هغه ټول غورځولے شی په جهنم کښ تردے پورے چه هر کله څوک باقی پاتے نۀ شی. سوا د هغه خلقو نه چا چه د الله عبادت کوو. کۀ نیک وی یا بد. په دغه وخت به مالک د ټول جهان د هغوی خواله راشی. په

يَبْقَ إِلاَّ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ تَعَالَى مِنْ بَرٍّ وَفَاجِرٍ أَتَاهُمْ رَبُّ الْعَالَمِينَ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى فِي أَدْنَى صُورَةٍ مِنَ الَّتِي رَأَوْهُ فِيهَا قَالَ فَمَا تَنْتَظِرُونَ تَتْبَعُ كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ قَالُوا يَا رَبَّنَا فَارَقْنَا النَّاسَ فِي الدُّنْيَا أَفْقَرَ مَا كُنَّا إِلَيْهِمْ وَلَمْ نُصَاحِبْهُمْ فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُولُونَ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ لاَ نُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا حَتَّى إِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَكَادُ أَنْ يَنْقَلِبَ فَيَقُولُ هَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ آيَةٌ فَتَعْرِفُونَهُ بِهَا فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ فَلاَ يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ للهِ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِهِ إِلاَّ أَذِنَ اللهُ لَهُ بِالسُّجُودِ وَلاَ يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ اتِّقَاءً وَرِيَاءً إِلاَّ جَعَلَ اللهُ ظَهْرَهُ طَبَقَةً وَاحِدَةً كُلَّمَا أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ خَرَّ عَلَى قَفَاهُ ثُمَّ يَرْفَعُونَ رُءُوسَهُمْ وَقَدْ تَحَوَّلَ فِي صُورَتِهِ الَّتِي رَأَوْهُ فِيهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُولُونَ أَنْتَ رَبُّنَا ثُمَّ يُضْرَبُ الْجِسْرُ عَلَى جَهَنَّمَ وَتَحِلُّ الشَّفَاعَةُ وَيَقُولُونَ اللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْجِسْرُ قَالَ دَحْضٌ مَزِلَّةٌ فِيهِ خَطَاطِيفُ وَكَلاَلِيبُ

داسې صورت کښې چه هغه مشابه نه وي د هغه صورت چه هغې لره هغوی پیژنی او او به فرمائی تاسو د څۀ خبرې منتظر یئ؛ هر یو ګروه ملګرې شي؛ د خپل خپل معبود سره. هغه به اووائی اے زمونږ ربه! مونږ خو په دنیا کښې د دغه خلقو ملګرتیا نۀ وه کړې (یعنی د مشرکانو) هر کله چه مونږ د هغې ډیر محتاجه وو. نۀ د هغوی په صحبت کښې پاتې شوی وو. بیا به هغه اوفرمائی زۀ ستاسو رب یم هغه به اووائی مونږ په الله سره پناه غواړو ستا نه او د الله سره چا لره نۀ شریک کوو. دوه یا درې خبرې به دلته کوی تر دې پورې چه په هغو کښې به بعضې خلق اوړېدو ته نږدې شي. ولې چه دا امتحان به ډیر سخت وي او شبه به په زړۀ کښې زور کوی، بیا به هغه اوفرمائی. بنۀ ده تاسو د خپل رب څۀ نخښې پیژنئ؛ چه په هغې سره هغه اوپیژنئ؛ هغه به اووائی آو. بیا به د خدائے پنډۍ ښکاره شی. او کوم سړې چه خدائے ته (په دنیا کښې) د خپل زړۀ نه (بغیر د ظلم او یرې یا د ریَا نه) سجده کړې وی هغۀ ته به هلته هم سجده حاصله وی. او کوم سړی چه په دنیا کښې سجده کوله د خپل ځان د بچ کولو د پاره (د تورې د یرې نه او په زړۀ کښې د هغۀ ایمان نۀ وو یا خلقو ته د ښودنې د پاره) نو د هغۀ شا به الله یو تخته کړی. هر کله چه هغه سجده کول غواړی نو پر مخې به په زمکه راولویږی. بیا چه هغه خلق خپل سَر اوچتوی نو خدائے تعالیٰ به په هغه صورت کښې وی په کوم صورت کښې چه وړاندې هغۀ لیدلې شوې و. او اوبه وائی چه زۀ ستاسو رب یم هغه به ټول اووائی ته زمونږ رب ئې. د دې نه پس به په جهنم باندې یو پل کیښودې شی. او سفارش به شروع شی. او خلق به وائی یا الله مونږ بچ کړې یا الله مونږ بچ کړې خلقو اووې. یا رسول الله! پُل به څنګه وی؟ هغۀ اوفرمایل. د خوئیدو یو مقام به وی هلته به کُنډې وی او ازغی.

وَحَسَكٌ تَكُونُ بِنَجْدٍ فِيهَا شُوَيْكَةٌ يُقَالُ لَهَا السَّعْدَانُ فَيَمُرُّ الْمُؤْمِنُونَ كَطَرْفِ الْعَيْنِ وَكَالْبَرْقِ وَكَالرِّيحِ وَكَالطَّيْرِ وَكَأَجَاوِيدِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ فَنَاجٍ مُسَلَّمٌ وَمَخْدُوشٌ مُرْسَلٌ وَمَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ حَتَّى إِذَا خَلَصَ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ بِأَشَدَّ مُنَاشَدَةً لِلَّهِ فِي اسْتِقْصَاءِ الْحَقِّ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لِلَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ فِي النَّارِ يَقُولُونَ رَبَّنَا كَانُوا يَصُومُونَ مَعَنَا وَيُصَلُّونَ وَيَحُجُّونَ فَيُقَالُ لَهُمْ أَخْرِجُوا مَنْ عَرَفْتُمْ فَتُحَرَّمُ صُوَرُهُمْ عَلَى النَّارِ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا قَدْ أَخَذَتِ النَّارُ إِلَى نِصْفِ سَاقَيْهِ وَإِلَى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَقُولُونَ رَبَّنَا مَا بَقِيَ فِيهَا أَحَدٌ مِمَّنْ أَمَرْتَنَا بِهِ فَيَقُولُ ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ دِينَارٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا ثُمَّ يَقُولُونَ رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيهَا أَحَدًا مِمَّنْ أَمَرْتَنَا ثُمَّ يَقُولُ ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ نِصْفِ دِينَارٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا ثُمَّ

لکه چه د نجد په ملک کښں یو ه غنه وی چه هغے ته سعدان ویلے کیږی یعنی (کوږ سر والا) مومنان به په هغه پل باندے تیریږی بعضے د سترګو په رف کښں. بعضے د بخلۍ پشان بعضے د مرغو په شان بعضے د تیزو اسونو په شان بعضے د اوښانو په شان او بعضے به بالکل د جهنم نه بچ بچ پورے اوځی. (یعنی هغوی ته بالکل صدمه نۀ رسیږی) لیکن بعضے به څۀ صدمه اومومی خو اُوبه رَسی (یعنی پورے به اوځی) او بعضے به په تکلیفونو موندو سره جهنم ته غورځیږی. هر کله چه مومنان د جهنم نه خلاصے اومومی. نو قسم دی په هغه ذات چه د هغۀ په لاس کښں خما روح دے. چه څوک په تاسو کښں د خپل حق دپاره جګړه کونکے دومره نۀ دے. څومره چه هغه جنګ کونکی وی د خدائے سره د قیامت په ورځ د خپلو هغه رونړو دپاره چه هغه په جهنم کښں وی. (دخدائے سره جګړه کونکی یعنی خدائے ته بار بار عرض کونکی د خپلو رونړو د جهنم نه د ازادولو دپاره)هغه به وائی اے زمونږ ربه ! دغه خلق (کوم چه اوس په جهنم کښں دی) روژے به ئے نیولے زمونږ سره او مونځ به ئے کولو او حج به ئے کولو. حکم به اوشی لاړ شئ او رااوباسئ ئے د جهنم نه کوم چه تاسو پیژنئ. بیا به دهغو صورتونه په جهنم باندے حرام شی (یعنی د جهنم اُوربه د هغو صورتونو لره بدلولے نۀ شی او مخ به د هغوی محفوظ وی ددے دپاره چه مومنان هغوی لره پیژنی،) او مومنان به ډیرو کسانو لره د جهنم نه رااوباسی. په هغوی کښں به بعضو لره اُور د نیمو پنډو پورے خوړلے وی بعضو لره د زنګونانو پوری بیا به هغه اووائے اے زمونږ ربه! اوس خو په جهنم کښں څوک باقی پاتے نۀ شو د هغه سړو نه چه د هغوی د ویستلو تا حکم کړے وو مونږ ته (یعنی په مونځ روژه او حج کونکو والا کښں اوس څوک پاتے نۀ شو) حکم به اوشی بیا لاړ شئ او د چا په زړۀ کښں

يَقُولُونَ رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيهَا مِمَّنْ أَمَرْتَنَا أَحَدًا ثُمَّ يَقُولُ ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا ثُمَّ يَقُولُونَ رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيهَا خَيْرًا وَكَانَ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ يَقُولُ إِنْ لَمْ تُصَدِّقُونِي بِهَذَا الْحَدِيثِ فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضَاعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ شَفَعَتِ الْمَلَائِكَةُ وَشَفَعَ النَّبِيُّونَ وَشَفَعَ الْمُؤْمِنُونَ وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ فَيَقْبِضُ قَبْضَةً مِنَ النَّارِ فَيُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لَمْ يَعْمَلُوا خَيْرًا قَطُّ قَدْ عَادُوا حُمَمًا فَيُلْقِيهِمْ فِي نَهَرٍ فِي أَفْوَاهِ الْجَنَّةِ يُقَالُ لَهُ نَهَرُ الْحَيَاةِ فَيَخْرُجُونَ كَمَا تَخْرُجُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ أَلَا تَرَوْنَهَا تَكُونُ إِلَى الْحَجَرِ أَوْ إِلَى الشَّجَرِ مَا يَكُونُ إِلَى الشَّمْسِ أُصَيْفِرُ وَأُخَيْضِرُ وَمَا يَكُونُ مِنْهَا إِلَى الظِّلِّ يَكُونُ أَبْيَضَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ كَأَنَّكَ كُنْتَ تَرْعَى بِالْبَادِيَةِ قَالَ فَيَخْرُجُونَ كَاللُّؤْلُؤِ فِي رِقَابِهِمُ الْخَوَاتِمُ

چه د دينار برابر نيکي مومئ هغه هم را اوباسئ بيا به هغه را اوباسي ډيرو خلقو لره. او اووائي به اے زمونږ ربه! مونږ پرے نه خو دو چالره په هغه خلقو کښ د کومو د ويستلو چه تا مونږ ته حکم کړے وو. حکم به اوشي بيا لاړشئ او د چا په زړهٔ کښ چه د نيم دينار برابر هم نيکي مومئ هغه هم را اوباسئ بيا به هغه ډيرو کسانو لره را اوباسي. او اوبه وائي اے پروردګاره! اوس په هغوی کښ څوک باقي پاے نهٔ شو د هغه خلقو نه چه د هغوی د راويستو تا حکم کړے وو. حکم به اوشي بيا لاړشئ او د چا په زړهٔ کښ چه د يوے ذرے برابر نيکي وي هغه هم را اوباسئ بيا به هغه را اوباسي ډيرو کسانو لره او اوبه وائي اے زمونږ ربه! اوس خو په هغو کښ څوک پاتے نهٔ شو د چا په زړهٔ کښ چه ذره برابر هم نيکي وه. (بلکه اوس ټول هغه قسم خلق دي چه هغه بدکار او کافر وو او د رتئ برابر هم نيکي په هغوی کښ نهٔ وه) ابوسعيد خدريؓ چه هر کله دا حديث بيانولو نو ويلي ئے وو کهٔ چرے تاسو ما رښتونے نهٔ ګڼړئ په دے حديث کښ نو اولولئ دے ايت لره چه إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ د آخره پورے. يعني الله تعالی ظلم نهٔ کوی د رتئ برابر او کومه چه نيکي وی نو هغه دوچند کوی او د خپل طرف نه ډير څهٔ ثواب ورکوی. بيا به الله تعالی اوفرمائي فرښتے به شفارس اوکړی. او پيغمبرؑ به سفارش اوکړی او مومنان به شفارش اوکړی. اوس څوک باقي پاتے نهٔ شو خو هغه باقي دے چه هغه د ټولو رحم کونکونه زيات رحم کونکے دے (قربان د هغهٔ د ذات مقدس نه) بيا به يوه خاوره د جهنم نه را اوباسي د بنيادمو او په هغے کښ به هغه خلق وی چه هغوی چرته هم نيکي نهٔ وی کړيٌ هغه به سوی سکارهٔ شوی وی بيا به خدائے تعالی هغه خلقو لره يو نهر ته اوغورځوی چه هغه به د جنت په دروازو باندے وی چه د هغے نوم نهر الحيات دے.

يَعْرِفُهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ هَؤُلَاءِ عُتَقَاءُ اللهِ الَّذِينَ أَدْخَلَهُمُ اللهُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ عَمَلٍ عَمِلُوهُ وَلَا خَيْرٍ قَدَّمُوهُ ثُمَّ يَقُولُ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ فَمَا رَأَيْتُمُوهُ فَهُوَ لَكُمْ فَيَقُولُونَ رَبَّنَا أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ فَيَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي أَفْضَلُ مِنْ هَذَا فَيَقُولُونَ يَا رَبَّنَا أَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ هَذَا فَيَقُولُ رِضَايَ فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا

هغه به په هغې کښې داسې زرترو تازه شي لکه چه دانه د اوبو راوړلو خزلې مزلې په ځائې کښې راخيژي. (په زور سره لامدۀ شي) تاسو ګورئ دانه کله د ګټې سره وي کله د ونې سره او کومه چه د نمر په طرف باندې وي هغه زيړه يا شنه راخيژي او کومه چه په سورې وي هغه سپينه پاتې وي خلقو اووې يا رسول الله ﷺ تاخو لکه چه په ځنګل کښې څاروي څرولي وي (د هغې په ټول حال پوهه ئې) بيا هغۀ اوفرمايل چه هغه خلق به د دغه نهر نه د لعلونو پشان پر قيدلي راوځي. د هغوي په غاړو کښې به پټې وي جنت والا به هغوي لره پيژني. او وائي به چه دا د الله تعالى ازاد کړې شوي دي دوي لره خدائې پاک جنت ورکړو بغير د څۀ نيکئ او عمل نه بيا به ورته فرمائي جنت ته ځئ او څۀ څيز ته چه ګورئ هغه ستاسو دې. هغه به اووائي اې زمونږه ربه تا مونږ لره دومره څۀ راکړو چه دومره تا چا له نۀ دي ورکړي په ټول جهان والو کښې. الله تعالى به اوفرمائي اوس ځما سره ستاسو دپاره د دې نه زيات نور هم څۀ دي هغه به اووائي اې زمونږ ربه! اوس د دې نه زيات څۀ دي؟ الله تعالى به اوفرمائي ځما رضامندي اوس به زۀ په تاسو باندې چرته نۀ غصه کيږم[1].

---

[1] يعني الله تعالى ته به کتلو کښې د ګنړې او ګنړه ګنړه تکليف نۀ وي. د نمر او د سپوږمئ په ليدو کښې د څۀ قسم تکليف د ګنړې نۀ وي او کلام په طريقه د مبالغه دې. يعني کۀ چرې به فرض محال څۀ تکليف وي نو دومره به وي. بعضې علماؤ ويلي دي. چه دا رؤيت مغائر دې د هغه رؤيت چه هغه به خاص مومنانو لره په جنت کښې وي. او دا رؤيت به د امتحاناً تميز دپاره وي د مومنانو او مشرکانو په مينځ کښې (طيبي). سراب ويلې شي هغه شګدارې زمکې ته چه هغه د لرې نه د غرمې په وخت په ګرمئ کښې د اُوبو پشان ښکاره کيږي. هر کله چه خواله ئې هلته لاړ شي نو اُوبه نۀ وي. او تږې بنده جوړه لاسونه پاتې شي. دغه شان حال به د هغه جهنميانو وي. چه د تندې د سختې نه به جهنم لره چه به ورته د سَراب په شان معلوميږي اوبۀ اوګنړي او په هغې کښې به اوغورځيږي. پناه غوارو مونږ په خدائې پاک سره د يهودو او نصاراؤ اصلي دين ډير خوندناک او ښۀ وو. او د خدائې د طرفنه راغلې وو. لکه د اسلام دين. خو د هغه ورخو د مذهبونو عالمانو او امامانو پخپله ناپوهئ او بې عقلئ سره داسې خبرې په دين کښې شريکې کړې چه هغه سراسر د عقل خلاف دي. او هغوي دا اوګنړله چه مونږ د خپلو خپلو پيغمبرانو د خدائې خوښې جوړ وو. نو خلق به زمونږ پيغمبر ﷺ لره د تولو نه لوئې اوګنړي. او زمونږ په دين کښې به شريک کيږي او د قيامته پورې به دا دين د نورو پيغمبرانو په راتلو سره نۀ منسوخ کيږي. حالانکه کۀ چرې په دغه خلقو کښې لږ شان هم عقل وې او پوهه ئې لرلې او غور ئې کولې نو داسې بې فائدې او بيهوده خبرې به ئې په خپل دين کښې نۀ شريک کولې او خپل دين به ئې نۀ بدنامولو د يهودو

حال چه دد ے بیوقوفئی په طفیل شو ے د ے هغه ظاهر د ے چه په ټوله دنیا کښې د هغوی شمار ډیر لږ پاتے شو او د هغوی ټول شوکت او حشمت په خاورو کښې ملاؤ شو او د نصراؤ هم ترقی لره عربو د اسلام په زور سره ختمه کړه. اوس په د ے زمانه کښې وایه نصری دنیاوی علومو او فنونو په وجه سره په مسلمانانو باند ے غالب شوی دی او په ظاهر ډیر څۀ نه څۀ لری خو د هغو دین او مذهب د اسلام په دین او مذهب باند ے هیڅ کله غالبه نۀ د ے. بلکه دا زمانه داسے ده چه په د ے کښې د علوم عقلیه ورخ په ورخ ترقی کیږی او خلق په د ے پوهه دی چه د نصراؤ دا بے دلیله دعو ے. چه حضرت مسیح د خدائے خوئ وو ځومره وقعت لری. افسوس! صد افسوس! کۀ چر ے نصاری دا وخت هم د خپل عقل نه کار واخلی او لکه ددنیا ه کارونو کښې چه غور او فکر کوی دغه شان د خپل دین اصولو لره هم جانچ کړی نو دا ټوله طمعه کاری او دهوکه بازی کومه چه دهغوی پادریانو کړ ے ده. به په هغوی باندی ښکاره شی. هغه به هم د مسلمانانو په شان د ربښتونی توحید په نور سره مشرف شی. کۀ چر ے نصاری دغه بے فائد ے او بے هوده خبره او خلاف عقل یعنی تثلیث لره پریږدی او په توحید باند ے راشی. نوبیا په هغوی کښې او په مسلمانانو کښې به ډیر کم فرق پاتے شی. او دا دواړه قومه به یو ځائے په تګ راتګ سره په دنیا کښې ژوند تیرول شروع کړی او د دشمنئ او وینے تویه ولو دروازه به بنده شی. بلکه څۀ عجب خبره ده چه په څو ورځو کښې به نور باقی قومو نه هم د دوی تابعدار شی. او په عوض د بے اتفاقئ او اختلاف او فساد به اتفاق او اتحاد او آمن امان پیدا شی. خیر دا ټوله د خدائے په مرضئ باندی موقوف ده. خو هغه مسلمان چه خپل ځان ته مسلمان وائی او د مشرکانو پشان د خدائے نه سوا د پیرانو او د پیغمبرانو منختے ورکوی د مصیبت په وخت هغوی ته چغے وهی. د هغوی نه دعا غواړی. په هر امر باند ے هغوی لره قادر او متصرف خیال کوی. هغه په حقیقت کښې د نصراؤ نه هم بدتر دی خاور ے د پریوځی د هغوی په عقلونو باند ے. هغوی نصاراؤ لره د اعتراض ځائے ورکړی ګرځلے د ے یعنی د هغو د صفاتو نه چه هغه د ۀ بیان کړی دی هغوی لره پیژنی. او هغوی کښې یو صفت دا هم د ے. چه هغه ددنیا د څۀ مخلوق مشابه نۀ د ے. نۀ د چا د جوړ د ے. پاک د ے د هر عیب او نقس نه یعنی په دنیا کښې چه هر کله مونږ لره د خپل معاش په واسطه د هغه خلقو سره د ملاویدو او د دوستئ کولو ضرورت وو. په هغه وخت خو مونږ ملاو نۀ شو نۀ مو د هغوی ملګرتیا اوکړه. بلکه فقرو فاقه مو قبوله کړه. او د هغوی مخالفت مو کولو او د هغوی رد مو کولو بیا نن مونږ ته د هغوی څۀ احتیاج نشته د ے. مونږ په هغوی پسے ولے خو او غرض داد ے چه مومنان به حق تعالی ته عاجزی او دعا کوی چه په د ے مشکل کښې زمونږ مدد اوکړه. د مهاجرینو او انصارو په دنیا کښې دا حال وو چه هغوی د خپلولئ او عزیز دارئ هم خیال نۀ د ے کړ ے. او د مشرکانو نه جدا شول او مصیبت ئے برداشت کړو. او دغه حال پاتے شو ے د ے د موحدینو په هره زمانه کښې چه هغوی د مشرکانو دلاس نه تکلیفونه اوچت کړی دی. راضی د وی الله تعالی جل شانه د هغوی نه. او زمونږ حشر د هغوی سره کړی آمین یا رب العالمین. په قرآن پاک کښې په سورۃ نون والقلم کښې دی يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ یعنی هغه ورځ په کهولاؤ به شی د ساق نه. ساق ویلے شی پنډئ ته. نووی رحمه الله وائی ابن عباس رضی الله عنه او اکثر خاوندانو د لغتو د ساق معنے دلته د سختئ او د زور دپاره کړ ے ده. یعنی یو هولناک امر به ښکاره شی. او دا متل د ے چه د ے لره د عربو خلق وائی. جنګ قائم شو په پنډو باند ے. او اصل داد ے چه انسان کله په یو سخت امر کښې پریوځی. نو خپلے متے رانغاړی او پنډئ ښکاره کوی پینسے راکاږی. د کوشش دپاره. قاضی عیاض ویلی دی بعضے وائی د ساق نه دلته یو لوئے نور مراد د ے. او دا په یو حدیث کښې هم وارد دی ابن فورک ویلی دی مراد د هغے نه هغه فائد ے او الطاف دی چه هغه به مومنانو ته نوی ملاویږی د خدائے پاک د دیدار په وخت. او بعضو ویلی دی چه ساق به یوه نخښه وی دمومنانو او د خدائے تعالی په مینځ کښې او څۀ فرښتے به ظاهریږی. او بعضو ویلی دی چه احتمال د ے چه ساق یو مخلوق وی د خدائے چه هغوی لره خدائے نخښه جوړه کړ ے وی د هغه وخت دپاره او دا د ساقونو نه یو جدا صورت وی. او بعضو ویلی دی دد ے معنی داده چه د هغوی یره به لاړه شی او رُعب به ترنه پاځی. او کوم خوف چه د هغوی په زړونو باند ے وو هغه به ختم شی او اطمینان به ورته حاصل شی. بیا به هغه سجده اوکړی. خطابی رحمه الله ویلی دی دا دیدار نور د ے. او هغه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَنَرَى رَبَّنَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ إِذَا كَانَ يَوْمٌ صَحْوٌ قُلْنَا لاَ وَسُقْتُ الْحَدِيثَ حَتَّى انْقَضَى آخِرُهُ وَهُوَ نَحْوُ حَدِيثِ حَفْصِ بْنِ

دویم روایت هم د ابوسعید خدری نه دغه شان دے. په دے کښ دادی چه مونږ اووے یا رسول الله ولے مونږ به خپل مالک لره اووینو؟ هغهٔ اوفرمائیل تاسو ته څهٔ حرج وی د نمر په لیدو کښ هر کله چه صفا ورځ وی؟ مونږه اووے نه. او بیان ئے کړو حدیث لره د آخره پورے خو دومره زیات دے دا دے عبارت نه پس هغو لره

چه کوم به مومنانو ته په جنت کښ وی هغه نور دے انتهی ما قال النووی رح. او دا ټول تاویلات بے فائدے او بے کاره دی. او مخالف دی د سلفو اصل دا دے چه خداوند کریم چه کوم اعضاء د خپل خان دپاره ثابت کړی دی. لکه وَجْههٗ او یَدٗ او عَیْن او سَاق دا ټول حق دی. او محمول دی په خپله معنی باندے لیکن ځنګه چه د خدائے حقیقت چا بشر ته معلوم نهٔ دے. دغه شان د دغه اعضاؤ هم حقیقت او ماهیت معلوم نهٔ دے. پس په هغے باندے ایمان راوړل پکار دی. او د هغے کیفیت لره په خداوند کریم باندے سپارل پکار دی. او بچ کیدل پکار دی د تشبیح نه یعنی دا خیال نهٔ کول چه معاذالله د خدائے لاس یا خُله یا سترګے یا پنډئ د بنیادمو یا د بل څهٔ مخلوق د لاسو یا د خُلے یا د سترګو یا د پنډء پشان دی. بلکه ځنګه چه د هغه ذات بے مثله او بے نظیر دے. دغه شان د هغهٔ صفات هم ټول بے مثله او بے نظیر دی دا عقیده ده د اهل حدیث رحمهم الله تعالیٰ. بله جمله په حدیث کښ دا ده چه ملا به تخته شی ځکه چه د ملا جوړ نه بنکته کیږی نو بیا به سجده څنګه کوی امام نووی ویلی دی دا سجده به د امتحان دپاره وی. او په دے سره بعضو عالمانو دلیل قائم کړ دے. په دے خبره باندے چه تکلیف مالایُطاق جائز دے یعنی د هغه خبرے حکم کول چه هغه اونهٔ شی. حالانکه دا استدلال باطل دے. ځکه چه آخرت د تکلیف ځائے نهٔ دے. او د هغه سجدے نه به امتحان مقصود وی او بعضو ویلی دی دا دے حدیث نه دا وهم کیږی چه منافقان به هم د مومنانو سره خدائے پاک لره اووینی. ابن فورک ویلی دی چه یوګروه په دے طرف تلے دے حالانکه دا غلط دے. بلکه د مسلمانانو د علماؤ د اجماع نه دا امر ثابت دے. چه منافقانو لره به د خدائے تعالیٰ دیدار نهٔ وی. او د حدیث نه دا خبره کوم ځائے ثابت ده چه منافق به هم خدائے پاک لره وینی. بلکه د هغه جماعت لیدل وتلی دی چه په هغے کښ به مومنان او منافقان ټول وی او د جماعت د لیدلو نه دا خبره نهٔ لازمیږی چه هر یو سړے د ئے د هغوی نه اووینی. او د کتاب او د سنتو نه ډیر دلیلونه دی په دے امر باندے چه منافق لره به د الله دیدار نهٔ نصیب کیږی. قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی د نیکئ نه مراد دلته یقین دے. او صحیح داه د چه نیکی هغه شئ دے چه هغه د ایمان نه علاوه دے. ځکه چه د ایمان حصے نهٔ شی کیدے بلکه دا حصے د هغه شی وی چه هغه په ایمان باندے زیاتی وی. لکه نیک عمل یا پټ ذکر یا بل څهٔ د زړهٔ عمل لکه شفقت په مسکینانو باندے یا خوف الٰهی یا صفا نیت وغیره. او دلالت کوی په هغے باندے دویم حدیث چه د جهنم نه به هغه بنده هم راوخی چه هغه لا الٰه الا الله ویلی وی. او د هغهٔ په زړهٔ کښ د رتئ په مقدار نیکی وی «نووی رح. چه د هغوی په شمار خوک پوهه نهٔ دے سوا د خداوند کریم نه. او د خدائے تعالیٰ موتی دومره قدرے لوئے دے چه توله زمکه د هغهٔ په موتی کښ به راتلے شی. د قیامت په ورځ مبارک دی هغه خلق چه هغه به د خپل مالک د خاص موتی نه راوستلے شی. او په هغوی باندے به د چا احسان نهٔ وی. سوا د خدائے کریم نه هغوی صرف د خدائے پاک په توحید باندے یقین لرلو. د هغوی سفارش کونکی به خوک فرښته یا پیغمبر یا مومن نهٔ وی. آخر به الله تعالیٰ پخپله په خپل مبارک لاس سره هغوی لره راوباسی. سبحان الله د مال رضامندی څومره لوئے نعمت دے. چه د جنت ټول نعمتونه د هغے مخے ته بے حقیقته دی. خوان سړے هغه دے چه هغه د خپل مالک د رضامندء طلب ګار لو په هر حال کښ د هغهٔ شکر ګزار وی.

مَيْسَرَةَ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ بِغَيْرِ عَمَلٍ عَمِلُوهُ وَلَا قَدَمٍ قَدَّمُوهُ فَيُقَالُ لَهُمْ لَكُمْ مَا رَأَيْتُمْ وَمِثْلُهُ مَعَهُ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ بَلَغَنِي أَنَّ الْجِسْرَ أَدَقُّ مِنَ الشَّعْرَةِ وَأَحَدُّ مِنَ السَّيْفِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ اللَّيْثِ فَيَقُولُونَ رَبَّنَا أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ وَمَا بَعْدَهُ فَأَقَرَّ بِهِ عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ

خدائے جنت ورکړو بغیر د څۀ عمل یا نیکئ نه . او هغوی ته به اوویلے شی څئچه تاسو ګورئ هغه ستاسودی. او دومره نور دی. حضرت سعید ویلی دی چه ماته دا حدیث رارسیدلے دے چه پُل به د ویختۀ نه زیات نرے او د تُورے نه به زیات تیرۀ وی. او د لیث په روایت کښې دا نشته دے. هغوی به وائی اے ربه! تا مونږ له هغه څۀ راکړل چه هغه د په ټول جهان والو کښې چا له نۀ دی ورکړی. او کوم چه د هغے نه روستو دی.

بَابُ إِثْبَاتِ الشَّفَاعَةِ وَإِخْرَاجِ الْمُوَحِّدِينَ مِنَ النَّارِ

باب : د شفاعت ثبوت او د جهنم نه د موحّدینو راویستلے کیدل[1]

[1] قاضی عیاض ویلی دی د اهل سنتو مذهب دا دے چه شفاعت عقلاً جائز دے. او شرعًا د هغے ثبوت دد ے ایت نه دے. يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا او دد ے ایت نه وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَىٰ. او حدیثو نه د شفاعت په باب کښې دیر راغلی دی . او آثار صحابه هم دیر دی. د هغے ټولو په ملاویدو سره د شفاعت ثبوت متواتر کیږی د ګناهګار مومن په واسطه او اجماع کړے ده سلفو او خلفو او ټولو اهل سنتو د شفاعت په ثبوت باندے. او انکار کړے دے خوارجو او بعضے معتزلو د شفاعت نه او د هغوی په نز به ګنهګار همیشه په جهنم کښې اوسیږی. دلیل د هغوی دا ایت دے. فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ او دا ایت وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ حالانکه دا ایتونه د کافرانو په حق کښې دی. او هغوی چه کوم د شفاعت د ایتونو تاویل کړے دے چه مراد د هغے نه د درجو زیاتوالے دے. نو دا باطل دے. او د حدیث د الفاظو نه صفا د هغوی تاویل باطلیږی. ولے چه په حدیث کښې دی چه جهنمیان به د شفاعت په وجه سره د جهنم نه ویستلے کیږی. لیکن شفاعت په پنځۀ قسمه دے. یو خو هغه چه هغه خاص زمونږ د پیغمبر ﷺ سره . او هغه تسکین ورکول دی دمیدا حشر د نقصان نه او حساب وکتاب زر شروع کول لکه چه به بیان مخکښې راشی. دویم بعضے خلقو له بغیر د حساب او کتاب نه جنت ته بوتلل دا هم زمونږ د پیغمبر ﷺ دپاره دے. دریم شفاعت د هغه خلقو دپاره چه هغه د جهنم مستحق شوی وی. د هغوی شفاعت به زمونږ پیغمبر ﷺ او نور خلق کوی. څلورم شفاعت د هغه خلقو چه هغه جهنم ته تلی وی د ګنهګارونه. او د هغوی راویستل زمونږ د پیغمبر ﷺ او د فرښتو او د مومنانو د شفاعت نه ثابت دی. لکه په یو حدیث کښې دی. چه بیا به الله تعالی رااُوباسی د جهنم نه هر یو لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ویلو والا او صرف کافران به په دغه دوزخ کښې پاتے کړے شی. پنځم هغه شفاعت چه هغه په جنت کښې د درجے اُوچتولو دپاره وی دد ے قسم شفاعت نه معتزله هم انکار نۀ کوی د ورمبی شفاعت نه . قاضی عیاض ویلی دی د مشهورو روایتونو نه د سلف صالحینو د شفاعت دپاره دعا کول ثابت شوی دی. په دے صورت کښې چه څوک وائی چه د الله تعالی نه زمونږ د پیغمبر شفاعت غوښتل مکروه دی. دد ے خبرے طرفته خبرے کول نۀ دی پکار. خکه چه شفاعت د څۀ ګنهګارو سره مخصوص نۀ دے. بلکه د تخفیف حساب او د درجو د زیات والی دپاره به هم وی. او هر یو عاقل ته یره لګیدلی ده چه چرته هغه د ګنهګارو نه نۀ شی. په خپل عمل باندے بهروسه نشته چه څنګه به وی.اوکوم سری چه هغے له مکروه ګنړلے دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُدْخِلُ اللهُ أَهْلَ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ يُدْخِلُ مَنْ يَشَاءُ بِرَحْمَتِهِ وَيُدْخِلُ أَهْلَ النَّارِ النَّارَ ثُمَّ يَقُولُ انْظُرُوا مَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيُخْرَجُونَ مِنْهَا حُمَمًا قَدِ امْتَحَشُوا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَاةِ أَوِ الْحَيَا فَيَنْبُتُونَ فِيهِ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ إِلَى جَانِبِ السَّيْلِ أَلَمْ تَرَوْهَا كَيْفَ تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً

د ابو سعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله به جنت والو لره جنت ته بوځی چا لره چه غواړی په خپل رحمت سره او دوزخ والا به دوزخ ته بوځی. بیا به او فرمائی. ګورئ د چا په زړۀ کښې چه د اوری د دانے برابر هم ایمان وی. هغه به د دوزخ نه راوباسئ. هغه خلق به راووځی د کولے پشان سیزلی شوی. بیا به اوغورځولے شی په نهر الحیات یا نهرا لحیا کښې (دا شک دے د امام مالک چه راوی دے دے حدیث او د نورو په روایت کښې نهرالحیات دے بغیر د شک نه) او دا سے به راخیژی لکه دانه چه د بهیدلو اُبو په طرف کښې راخیژی ولے تا هغے لره نۀ ده لیدلے څنګه زیړه پته شوے راووخیژی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا أَهْلُ النَّارِ الَّذِينَ هُمْ أَهْلُهَا فَإِنَّهُمْ لَا يَمُوتُونَ فِيهَا وَلَا يَحْيَوْنَ وَلَكِنْ نَاسٌ أَصَابَتْهُمُ النَّارُ بِذُنُوبِهِمْ أَوْ قَالَ بِخَطَايَاهُمْ فَأَمَاتَهُمْ إِمَاتَةً حَتَّى إِذَا كَانُوا فَحْمًا أُذِنَ بِالشَّفَاعَةِ فَجِيءَ بِهِمْ ضَبَائِرَ ضَبَائِرَ فَبُثُّوا عَلَى أَنْهَارِ الْجَنَّةِ ثُمَّ قِيلَ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ أَفِيضُوا عَلَيْهِمْ فَيَنْبُتُونَ نَبَاتَ الْحِبَّةِ تَكُونُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ كَأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَ بِالْبَادِيَةِ

د ابو سعید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هغه خلق جهنم والا ذی (یعنی همیشه هلته اوسیدونکی دی کافر او مشرک) نو هغهٔ به نۀ مری او نۀ به ژغیږی. لیکن څۀ خلق چه هغه د ګناهونو په وجه دوزخ ته تللے شی. اُور به هغوی لره اوسیزی او کوله به ترنه جوړه کړی. بیا به اجازت اوشی. شفاعت به کیږی. او دا خلق به راوبستلے شی ګروه ګروه او خورولے به شی د جنت په نهرونو باندے. او حکم به اوشی اے د جنت خلقو! په دوی باندے اُوبهٔ اوغورځوئ. بیا به هغه په دے شان سره یو ځائے شی لکه دا نه چه د هغه خاورے سره یو ځائے شی چه هغه اُوبو په بهیدو کښې راوړی وی. یو سړی اووے معلومیږی چه رسول الله ﷺ په ځنګل کښې اوسیدلے وی (هر کله چه هغۀ ته دا معلومه ده. چه په بهیدو کښې چه

پکار دهٔ چه هغه د مغفرت او بخښنے دپاره هم دُعا نۀ کوی. او د اختلاف دے د سلف او خلف د طریقے نه ختم شو کلام د قاضی عیاض علیه (نووی)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولاً الْجَنَّةِ رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا فَيَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ وَجَدْتُهَا مَلْأَى فَيَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ وَجَدْتُهَا مَلْأَى فَيَقُولُ اللهُ لَهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا أَوْ إِنَّ لَكَ عَشَرَةَ أَمْثَالِ الدُّنْيَا قَالَ فَيَقُولُ أَتَسْخَرُ بِي أَوْ أَتَضْحَكُ بِي وَأَنْتَ الْمَلِكُ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ قَالَ فَكَانَ يُقَالُ ذَاكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً

کومه خاوره جمع کیږی په هغې کښې دا نه ښه راتوکیږی.[1]

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی زهٔ پیژنم هغه سړے چه هغه به د ټولو نه ورستو جنت ته خی دا هغه سړے دے چه هغه به د جهنم نه د زنګونانو په سر کښې شوے رااوځی. الله تعالی به هغه ته اوفرمائی. خه او دا خل شه په جنت کښې. ویلی دی (هغوی) پس هغه به راشی جنت ته یا نژدی هغې ته پس اوبه غور خولے شی د هغهٔ په خیال کښې چه په تحقیق سره جنت ډک شوے دے. پس واپس به شی او اوبه وائی اے خما ربه! او موندو ما هغې لره (یعنی جنت لره) ډک شوے. پس اوبه فرمائی الله تعالی هغهٔ ته خهٔ پس داخل شه په جنت کښې (ویلی دی هغوی) بیا به داخل شی جنت ته بیا به واچولے شی د هغهٔ په خیال کښې چه تحقیق جنت ډک شوے دے. بیا به واپس شی او اُوبهٔ وائی اے خما ربه! ما اوموندو هغې لره ډک شوے (یعنی جنت لره) بیا به اووائی الله تعالی خه داخل شه په جنت کښې دا ستا دپاره دنیا او لس ددنیا برابر ځائے دے یا د لسو دنیا ګانو برابر. هغه به اووائی تهٔ خما سره ټوقې کوے یا خندا کوے. او تالره بادشاهی ده. عبد الله بن مسعودؓ وائی ما رسول اللهﷺ اولیدهٔ چه خندل ئے تر دے پورے چه د هغهٔ غاښ مبارک ښکاره شول. او هغه اوفرمایل دا ه د ټولو نه

[1] نوویؒ وېلی دی معنی د حدیث داده چه کوم خلق کافران دی او په جهنم کښې د همیشه اوسیدو مستحق دی نو هغه به نهٔ مری او نهٔ به ژغیږی یعنی په څهٔ شان به هغوی ته د عذاب نه خلاصے نهٔ وی. او راحت به ورته نهٔ حاصلیږی. لکه چه الله تعالی فرمایلی دی د هغوی به څهٔ فیصله نهٔ کیږی چه مړهٔ شی او نهٔ به پرے عذاب سپکیږی. او لکه چه ئے فرمایلی دی بیا به نهٔ په هغې کښې مړ کیږی نهٔ به ژوندے کیږی. او د اهل حقو مذهب داد ے چه د جنت آرام او د جهنم عذاب به دوارو ته همیشه وی او دا خلق چه کوم ګنهګار به جنت ته بوتلے شی دا به هغه خلق وی چه هغه به مومنان وی خو په ګناهونو کښې به مبتلا شوی وی. الله تعالی به هغوی لره د جهنم په اُور سره اووهی او کونتله به ئے کړی د یوے مودے پورے د عذاب ورکولو نه پس او دا امر به حقیقتاً یعنی احساس به ئے ختم شی. بیا به د جهنم نه راویستلے شی مړو لره د کونلے پشان.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنَ النَّارِ رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْهَا زَحْفًا فَيُقَالُ لَهُ انْطَلِقْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ فَيَذْهَبُ فَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ فَيَجِدُ النَّاسَ قَدْ أَخَذُوا الْمَنَازِلَ فَيُقَالُ لَهُ أَتَذْكُرُ الزَّمَانَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيُقَالُ لَهُ تَمَنَّ فَيَتَمَنَّى فَيُقَالُ لَهُ لَكَ الَّذِي تَمَنَّيْتَ وَعَشَرَةُ أَضْعَافِ الدُّنْيَا قَالَ فَيَقُولُ أَتَسْخَرُ بِي وَأَنْتَ الْمَلِكُ قَالَ فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ

د کمې درجې جنتي وي[1]

دعبد الله بن مسعود ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلي دي زهٔ پیژنم هغه سړي لره چه هغه به د ټولو نه ورستو د جهنم نه راوځي. هغه به یو سړے وي. چه هغه به په رابنکودلو د ګانړي په سُوري کښ د دوزخ نه راوېستلے شي. هغهٔ ته به اوویلے شي خه جنت ته خه! هغه به لاړ شي چه ګوري نو په ټولو مکانونو کښ به جنتیان وي (او یو مکان به خالي نه وي وړوکے غوندے هم) دهٔ ته به اوویلے شي تاته یاده ده هغه زمانه چه په هغې کښ ته وے. (یعني د دوزخ هغه تکلیف او تنګي) هغه به اووائي. آو. یاد دي بیا به هغهٔ ته اوویلے شي. بنهٔ ده اوس بله آرزو اوکړه. هغه به اوکړي. حکم به اوشي دا واخله او لس دنیا برابر واخله. او هغه به اووائي اے باري تعالی! ولې ته په ما پورے خندا کوے او ته بادشاه ئے (یعني لس ددنیا برابر ماله راکوے. او هلته خو یو وړوکے شان کور هم خالي نشته) راوي وائي ما رسول الله ﷺ لره اولیدو چه

[1] په سخر او ضحک کښ شک دے راوي ته او ضحک په دویم روایت کښ هم وارد دے او هغه عیب نهٔ دے. نهٔ نقص. بیا ضحک د خدائے په صفت کیدو کښ مانع نهٔ دے. او هغه مثل د نورو صفاتو الهیو مشابه نهٔ دے د مخلوق د صفاتو نه. نووي رحمه الله وائي د خندا کولو په معانو کښ اختلاف دے. او په دے کښ څو قولونه دي. یو دا کوم چه د امام رازي رحمه الله نه منقول دے چه په طریق د مقابلے دے. ځکه چه هغه د الله تعالی سره څو خله وعده اوکړه. چه اوس به څهٔ نهٔ غوارم. بیائے د خپل اقرار خلاف اوکړو او غوښتل ئے اوکړل. نو دا په مثل د خندا شول یعني هغه سړي دا اوګنړله چه د الله تعالی دا فرمان چه جنت ته خه او ستا دپاره دا دا نعمتونه دي د یو قسم خندا ده. یعني د هغهٔ خندا بدله ده. نو خندا بدلے ته ئے مجازاً خندا اووے. او مطلب دا دے چه ولې ته بدله ورکوے خما د خندا د بادشاه باوجود. دویم قول دا دے چه مراد دد دے نه نفي ده. چه زهٔ پوهه وم چه ته بادشاه ئے خندا نهٔ کوے لیکن حیران په دے یم چه ما نالائقه لره دومره لوئے لوئے نعمتونه راکوے. دریم قول دا دے چه ددغه سړي ژبه په قابو کښ نهٔ شوه او د هغهٔ نه په خوشحالۍ کښ داسے هیر شو چه شروع ئے کړے هغه خبرے لکه په دنیا کښ چه به ئے په داسے ځائے کښ کولے. او د خدائے په طرف د خندا نسبت کول او دا داسے دی. لکه چه دهٔ د بل سړي په حق کښ اوفرمایل. چه هغه د خوشحالۍ په وجه خپل ځان قابو نکړے شو. او اوئے ویل. چه ته خما بنده ئے او زهٔ ستا رب یم. او پکار وو دا ویل چه زهٔ ستا بنده یم او ته خما رب ئے. او د خوشحالۍ په وخت په بے اختیارۍ کښ اکثر داسې بے موقع او غلطے خبرے د ژبے نه وېستلے کیږي (انتهی)

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آخِرُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ رَجُلٌ فَهُوَ يَمْشِي مَرَّةً وَيَكْبُو مَرَّةً وَتَسْفَعُهُ النَّارُ مَرَّةً فَإِذَا مَا جَاوَزَهَا الْتَفَتَ إِلَيْهَا فَقَالَ تَبَارَكَ الَّذِي نَجَّانِي مِنْكِ لَقَدْ أَعْطَانِيَ اللهُ شَيْئًا مَا أَعْطَاهُ أَحَدًا مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ فَتُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا ابْنَ آدَمَ لَعَلِّي إِنْ أَعْطَيْتُكَهَا سَأَلْتَنِي غَيْرَهَا فَيَقُولُ لَا يَا رَبِّ وَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَى فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هٰذِهِ لِأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا وَأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا

خندل ئې تر دې پورې چه د هغهٔ غاښ مبارک ښکاره شو[1].

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمايلي دي. د تولو نه آخر چه څوک جنت ته ځي هغه به یو سړے وي چه هغه به روان وي. بیا به پرمخې غورځیږي. او د جهنم اُور به هغهٔ لره سیزي. هر کله چه د دوزخ نه پوریوځي نو په شا ته به هغې ته اوګوري. او وبه وائي لوئې برکت والا دے هغه صاحب چه هغه خلاصے راکړو ما لره ستا نه. بیشکه الله تعالی ما لره دومره څهٔ راکړل چه دومره ئې چا له نهٔ دي ورکړي. نهٔ په وړومبو کښې نهٔ په وروستو کښې. بیا به هغهٔ ته یوه اونه اوښودلے شي. هغه به اووائي اے ربه! ما نزدے کړه دغې اونې ته چه زهٔ د دے لاندے په سوري یم او د دے اوبه څښم. الله تعالی به ورته اوفرمائي اے د آدم علیه السلام خویه! کهٔ چرے زهٔ ستا دا سوال پوره کړم نو تهٔ به بیا بل سوال کوے. هغه به اووائي چه بیا به څهٔ بل سوال نهٔ کوم. الله تعالی به د هغهٔ عذر قبول کړي ځکه چه هغه به داسے نعمت لره لیدلے وي. چه په هغې باندے به د دهٔ نه صبر نهٔ شي کیدے (یعني انسان بې صبره دے. دے چه هر کله تکلیف کښې مبتلا وي او د عیش خبره اووینې. نو بې اختیاره د هغې خواهش کوي) آخر به الله تعالی هغهٔ لره هغې اونې ته نزدے کړي. هغه به د هغې په سوري کښې اوسیږي. او د هغې اُوبهٔ به څښي. بیا به هغهٔ ته یوه اونه اوښائي چه هغه به د هغې اونې نه هم ښهٔ وي. هغه به اووائي چه اے پروردګاره! ما لره دغې اونې ته نزدے اُورسوه. د دے د پاره چه زهٔ د دے اُوبه اُوڅکم او زهٔ بل څهٔ سوال نهٔ کوم الله تعالی به ورته اوفرمائي اے د آدم خویه! ولے تا وعدهٔ نهٔ وه کړے.

[1] په حدیث کښې د نواجذ لفظ دے. او نواجذ هغه غاښونو ته ویلے شي چه څغه د تولو نه آخر کښې راخیژي. چه هغې ته عوام د عقل غاښونه وائي او دا غاښونه هغه وخت ښکاره کیږي چه کله بنده په زور سره اوخاندي.

تَسْأَلْنِي غَيْرَهَا فَيَقُولُ لَعَلِّي إِنْ أَدْنَيْتُكَ مِنْهَا تَسْأَلْنِي غَيْرَهَا فَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَيَيْنِ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ لِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا قَالَ بَلَى يَا رَبِّ هَذِهِ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهَا فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَإِذَا أَدْنَاهُ مِنْهَا فَيَسْمَعُ أَصْوَاتَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْخِلْنِيهَا فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِينِي مِنْكَ أَيُرْضِيكَ أَنْ أُعْطِيَكَ الدُّنْيَا وَمِثْلَهَا مَعَهَا قَالَ يَا رَبِّ أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ فَضَحِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَقَالَ أَلَا تَسْأَلُونِي مِمَّ أَضْحَكُ فَقَالُوا مِمَّ تَضْحَكُ قَالَ هَكَذَا ضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا مِمَّ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مِنْ ضِحْكِ رَبِّ الْعَالَمِينَ حِينَ قَالَ

چه زهٔ به بیا سوال نهٔ کوم. او کهٔ چرے تا زهٔ دغے اونے ته اورسوم نو بیا به ته بل سوال کوے. هغه به اقرار اوکړی ولے نه یار به بس همدا سوال دے. بیا به زهٔ بل څهٔ سوال هم نهٔ کوم. او الله تعالی به هغهٔ لره معذور اوګڼری ځکه چه هغهٔ له صبر نشته په هغه نعمت کوم چه وینی. بیا به الله تعالی هغهٔ لره هغے اونے ته نږدے کړی هغه به د هغے په سوری کښ وی او د هغه خائے اُوبه به څښی. بیا به هغهٔ ته یوه اُونه اوښودلے شی چه هغه به د جنت په دروازه باندے وی. او هغه به د رومبو دواړو اونو نه غوره وی. هغه به اووائی اے خما ربه! ما دغے اونے ته اورسوه. چه زهٔ دد ے د سوری لاندے یم او د دغه ځائے اُوبه څښنم. اُوس به زهٔ نور څهٔ سوال نهٔ کوم. الله تعالی به ورته اوفرمائی اے د آدمؑ خویه! ولے تا اقرار نهٔ وو کړے چه اوس به زهٔ نور څهٔ سوال نهٔ کوم. هغه به اووائی بیشکه ما اقرار کړے وو. لیکن اوس خما دا سوال پوره کړه. بیا به زهٔ بل سوال نهٔ کوم. او الله تعالی به معذور اوګرځوی دهٔ لره. ځکه چه هغه به ګوری هغه نعمتونو ته چه د کومو نه صبریدے نهٔ شی. آخر به الله تعالی هغهٔ لره د هغه اونے سره کړی. هر کله چه هغه د هغه اونے خواله لاړ شی نو د جنت والو آوازو نه به واوری. او اوبه وائی. اے خما ربه! ما جنت ته دننه اورسوه. الله تعالی به اوفرمائی اے د آدم خویه! ستا دا سوال به کوم ځیز ختمه وی. (یعنی ستا دا خواهش به کله موقوف شی. او دا باربار سوال کول به څنګه بند شی) عجیبه خبره ده. ته په دے باندے راضی ئے چه زهٔ تا له د ټولے دنیا برابر درکړم او دومره نور درکړم هغه به اووائی اے ربه خما! ته خما سره خندا کوے او ته د ټول جهان مالک ئے. بیا عبد الله بن مسعودؓ په خندا شو او خلقو ته ئے اووے. تاسو تپوس نهٔ کوئ خمانه چه زهٔ ولے خاندم. خلقو تپوس اوکړو چه ته ولے خاندے؟

أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ فَيَقُولُ إِنِّي لاَ أَسْتَهْزِئُ مِنْكَ وَلَكِنِّي عَلَى مَا أَشَاءُ قَادِرٌ

هغوی اووے رسول الله ﷺ په دے شان (دد ے حدیث بیانولو سره) خندلی وو. خلقو تپوس اوکړو ته ولے خاندے یا رسول الله! هغوی اوفرمایل. د رب العلمین د خندا سره زهٔ هم خاندم. هر کله چه هغه بنده دا اووائی چه ته زما سره خندا توقے کوے او د ټول جهان مالک ئے پروردګار او خاندی (د هغهٔ په نادانئ او بے وقوفئ باندے) او اوفرمائی زهٔ توقے نهٔ کوم (توقے او مذاق کول خما لائق نهٔ دی. هغه د بندیګانو لائق دی) بلکه زهٔ چه څهٔ غوارم کولے شم[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً رَجُلٌ صَرَفَ اللهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ قِبَلَ الْجَنَّةِ وَمَثَّلَ لَهُ شَجَرَةً ذَاتَ ظِلٍّ فَقَالَ أَيْ رَبِّ قَدِّمْنِي إِلَى هَذِهِ الشَّجَرَةِ أَكُونُ فِي ظِلِّهَا وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَلَمْ يَذْكُرْ فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِينِي مِنْكَ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ وَزَادَ فِيهِ وَيُذَكِّرُهُ اللهُ سَلْ كَذَا وَكَذَا فَإِذَا انْقَطَعَتْ بِهِ الأَمَانِيُّ قَالَ اللهُ هُوَ لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ قَالَ ثُمَّ يَدْخُلُ بَيْتَهُ فَتَدْخُلُ

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د ټولو نه د کمے درجے جنتی هغه دے. چه د هغهٔ مخ به الله تعالی د جهنم د طرفنه واړه وی او د جنت طرفته به ئے کړی او هغه ته به یو سوری والا اُونه اوښودل شی. هغه به اووائی اے خما ربه! ما دد ے اونے خواله بوخه زهٔ به دد ے په سوری کښ یم. او بیان ئے کړو حدیث لره په هغه شان لکه چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه بیان کړے دے. مګر په هغے کښ دا نشته چه الله تعالی به اوفرمائی اے د آدم خویه! ستا سوال به څهٔ شے ختموی د اخره پورے. دومره زیات دے. چه الله تعالی به هغهٔ ته یاده وی چه د فلانی فلانی څیز آرزو اوکړه. تر دے پورے چه هر کله د هغهٔ ټولے آرزوګانے ختم شی. نو الله تعالی به اوفرمائی ته دا ټول واخله او لس حصے دد ے نه زیاتے واخله او بیا به هغه خپل کور ته لاړ شی. او د

[1] بیا د دوه دنیا برابر ورکول څهٔ مشکل کار دے. چه په دے باندے ته حیران شوے. او دے لره د خندا او مذاق اوګنړلو. هغه خو قادر مطلق دے. چه په لکونو کرورونو د دنیا مثل په یو دم جوړولے شی. بلکه اوس په زرګونو لکونو دنیا زمونږ د زمکے برابر او د هغے نه په لکونو حصے لوئے د هغهٔ په سلطنت کښ موجود دی. دا حدیث اګر چه د جنتیانو په حال کښ وارد دے. خو په دنیا کښ په دے حدیث باندے په غور کولو سره لوئے لوئے فائدے حاصلیدے شی. د هغے نه یوه فائده داده. چه د طمع او حرص او بے صبرئ څهٔ انتها نشته که څرے خزانه د قارون هم انسان ته ملاو شی یا د هفت کشور سلطنت هم اوموبی بیا به هم دد ے نه د زیات حرص کوی خکه انسان لره لازم دی چه د اول نه د طمع او د حرص زیلی پریکړی او خومره قدرے چه خدائے ورکوی هغه ډیره اوګنړی او پرے خوشحاله شی. ګینی پدے صفت به ئے ژوند برباد شی. او ټول عمر به په غم او تکلیف کښ ګرفتار وی.

عَلَيْهِ زَوْجَتَاهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ فَتَقُولَانِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَحْيَاكَ لَنَا وَأَحْيَانَا لَكَ قَالَ فَيَقُولُ مَا أُعْطِيَ أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُعْطِيتُ

حورو نه به دوه بيبيانے ددهٔ خواته راشی. او اُوبه وائی چه شکر دے د خدائے چه هغه تا لره ژوندے کړو زمونږ دپاره او مونږ نے ژوندی کړو ستا د پاره. بيا به هغه اووائی چا ته الله تعالی دومره زيات نهٔ دهٔ ورکړے خومره چه ئے مونږ له راکړے دهٔ.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يَرْفَعُهُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَأَلَ مُوسَى رَبَّهُ مَا أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً قَالَ هُوَ رَجُلٌ يَجِيءُ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ فَيُقَالُ لَهُ ادْخُلِ الْجَنَّةَ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ كَيْفَ وَقَدْ نَزَلَ النَّاسُ مَنَازِلَهُمْ وَأَخَذُوا أَخَذَاتِهِمْ فَيُقَالُ لَهُ أَتَرْضَى أَنْ يَكُونَ لَكَ مِثْلُ مُلْكِ مَلِكٍ مِنْ مُلُوكِ الدُّنْيَا فَيَقُولُ رَضِيتُ رَبِّ فَيَقُولُ لَكَ ذٰلِكَ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ فَقَالَ فِي الْخَامِسَةِ رَضِيتُ رَبِّ فَيَقُولُ هٰذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ وَلَكَ مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ فَيَقُولُ رَضِيتُ رَبِّ قَالَ رَبِّ فَأَعْلَاهُمْ مَنْزِلَةً قَالَ أُولٰئِكَ الَّذِينَ أَرَدْتُ غَرَسْتُ كَرَامَتَهُمْ بِيَدِي وَخَتَمْتُ عَلَيْهَا فَلَمْ تَرَ عَيْنٌ وَلَمْ تَسْمَعْ أُذُنٌ وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ قَالَ وَمِصْدَاقُهُ فِي كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ

د مغيره بن شعبهؓ نه روايت دے . هغهٔ وئيلی وو. رسول اللهؐ فرمائيلی دی چه حضرت موسیٰؑ د خپل پروردګار نه تپوس اوکړو. د تولو نه کمے درجے والا جنتی څوک دے؟ الله تعالی اوفرمائيل هغه سړے دے. چه تول جنتيان به جنت ته لاړ شی نو ورستو به هغهٔ ته اووئيلے شی. څه جنت ته څه! هغه به اووائی اے څما ربه! څنګه لاړ شم؟ هلته خو تولو خلقو د خپلے خپلے د اوسيدو دپاره خپل ځايونه جوړ کړی دی. هغهٔ ته به اووئيلے شی. ولے ته راضی ئے په دے خبره باندے چه تا ته دومره ملک ملاؤ شی. څومره چه ددنيا د يو بادشاه سره وو. هغه به اووائی زهٔ راضی يم اے څما ربه! حکم به اوشی دومره ملک مونږ تا له درکړو. او دومره نور، او دومره نور، او دومره نور، او دومره نور. په پنځم ځل کښې به هغه اووائی زهٔ راضی يم اے څما ربه! الله تعالی به اوفرمائی دا هم واخله او لس حصے ددے نه زياتے واخله او څهٔ ستا زړهٔ غواړی او کوم چه تا ته بنهٔ بنکاره په ليدو کښې هغه واخله. هغه به اووائی زهٔ راضی شوے يم اے څما ربه! بيا حضرت موسیٰؑ تپوس اوکړو؟ د تولو نه لوئے درجے والا جنتی څوک دے. الله تعالی اوفرمائيل هغه خو هغه خلق دی چه هغه ما پخپله اره ولی دی او د هغوی بزرګی او عزت ما په خپل لاس سره کلک کړے دے. او په هغوی مے مُهر لګولے دے. د چا سترګو نه دے ليدلے نه د چا غوږونو اوريدلے دے. نهٔ د چا په زړهٔ کښې تير شوے دے (کوم څهٔ چه د هغوی

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ الآيَة

دپاره تیار دي، او د هغې تصدیق کوي هغه څه چه په کلام الله کښې دي. فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ الآية یعنی څوک نه دي خبر د هغه څه نه چه پټ ایخودي شوي دي د هغوی دپاره د هغوی د سترګو یخوالے د اخره پورے.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ إِنَّ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامِ سَأَلَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ عَنْ أَخَسِّ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْهَا حَظًّا وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِهِ

مغیره بن شعبه په ممبر باندے اووے حضرت موسیٰ د الله تعالی نه تپوس اوکړو د ټولو نه د کمې درجې جنتي څوک دے. بیائے بیان کړو حدیث لره په هغه شان سره لکه چه پورته تیر شو.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا رَجُلٌ يُؤْتَى بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ وَارْفَعُوا عَنْهُ كِبَارَهَا فَتُعْرَضُ عَلَيْهِ صِغَارُ ذُنُوبِهِ فَيُقَالُ عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا وَعَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنْكِرَ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِ ذُنُوبِهِ أَنْ تُعْرَضَ عَلَيْهِ فَيُقَالُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً فَيَقُولُ رَبِّ قَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ لَا أَرَاهَا هَا هُنَا فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ

د ابوذر نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلي دي. زهٔ پیژنم هغه سړي لره چه هغه به د ټولو نه وروستو جنت ته ځي. او د ټولو نه روسته به د دوزخ نه رااوځي. هغه به یو سړے وي چه هغه به راوستے شي د قیامت په ورځ. بیا به حکم اوشي پیش کړئ دده واړه ګناهونه او مهٔ پیش کوئ دده غټ ګناهونه نو پیش به کړے شي د هغهٔ وارهٔ ګناهونه. او ورته به اوویلے شي په فلانئ ورځ تا دا فلانے کار کړے دے. او په فلانئ ورځ د دا کار کړے دے. هغه به قبول کړي انکار به او نهٔ کړي. او اُوبه یریږي په خپلو غټو ګناهونو باندے چه چرته هغه پیش نهٔ کړے شي. حکم به اُوشي چه مونږ تا ته د هر یو ګناه په بدله کښې یوه نیکي در کړه. هغه به اووائي اے خما مالکه ما نور هم څهٔ کارونه کړي دي د ګناه. چه هغې لره ما دلته اونهٔ موندل. راوی وائي ما اولیدو رسول الله ﷺ لره چه خندل ئے تردے پورے چه د هغهٔ د جامو غاښونه ښکاره شول.

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يُسْأَلُ عَنِ الْوُرُودِ فَقَالَ نَجِيءُ نَحْنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَنْ كَذَا وَكَذَا انْظُرْ أَيْ ذَلِكَ

ابو الزبیر اوریدلي دي د جابر بن عبد الله انصاري نه د هغوی نه تپوس اوکړے شو د خلقو د حال د قیامت په ورځ. هغوی اووے مونږ به راځو د قیامت په ورځ په دے شان سره ګورئ یعنی دا د پاسه د ټولو خلقو. بیا

فَوقَ النَّاسِ قَالَ فَتُدْعَى الْأُمَمُ بِأَوْثَانِهَا وَمَا كَانَتْ تَعْبُدُ الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ ثُمَّ يَأْتِينَا رَبُّنَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَيَقُولُ مَنْ تَنْظُرُونَ فَيَقُولُونَ نَنْظُرُ رَبَّنَا فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُولُونَ حَتّٰى نَنْظُرَ إِلَيْكَ فَيَتَجَلّٰى لَهُمْ يَضْحَكُ قَالَ فَيَنْطَلِقُ بِهِمْ وَيَتَّبِعُونَهُ وَيُعْطٰى كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ مُنَافِقٍ أَوْ مُؤْمِنٍ نُورًا ثُمَّ يَتَّبِعُونَهُ وَعَلٰى جِسْرِ جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ وَحَسَكٌ تَأْخُذُ مَنْ شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ يُطْفَأُ نُورُ الْمُنَافِقِينَ ثُمَّ يَنْجُو الْمُؤْمِنُونَ فَتَنْجُو أَوَّلُ زُمْرَةٍ وُجُوهُهُمْ كَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ سَبْعُونَ أَلْفًا لَا يُحَاسَبُونَ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ كَأَضْوَإِ نَجْمٍ فِي السَّمَاءِ ثُمَّ كَذٰلِكَ ثُمَّ تَحِلُّ الشَّفَاعَةُ وَيَشْفَعُونَ حَتّٰى يَخْرُجَ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَزِنُ شَعِيرَةً فَيُجْعَلُونَ بِفِنَاءِ الْجَنَّةِ وَيَجْعَلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ يَرُشُّونَ عَلَيْهِمُ الْمَاءَ حَتّٰى يَنْبُتُوا نَبَاتَ الشَّيْءِ فِي السَّيْلِ وَيَذْهَبُ حُرَاقُهُ ثُمَّ يَسْأَلُ حَتّٰى تُجْعَلَ لَهُ الدُّنْيَا وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهَا مَعَهَا

به رااوغوښتے شی امتونه د خپلو خپلو بتانو او معبودانو سره ورپسے امت بیا دغه امت دد ے نه پس به زمونږه پروردګار راشی. اوفرمائی به. تاسو څوک ګوری؟ (یعنی امت محمدی ته به مخاطب شی اوبه فرمائی) هغه به اووائی مونږ خپل پروردګار لره ګورو. (یعنی د هغهٔ انتظار کونکی یو) پروردګار به اوفرمائی زهٔ ستاسو مالک یم هغه به اووائی مونږ تالره ګوره. (نو معلوم به شی) بیا به اوښود ے شی پروردګار هغوی ته به خندا سره. او د هغوی سره به روان شی. او خلق به ټول د هغهٔ نه ورسته وی هر یو سړی ته خواه کهٔ هغه منافق وی یا مومن به یو نُور ملاویږی. خلق به د هغے سره وی. او د جهنم په پل باند ے به ګُنډ ے او ازغی وی هغه به نیسی هغوی لره چه خدائے غواړی. دد ے نه پس به د منافقانو نُور مړ کړے شی. او مومنان به خلاصے اومومی. نو ورمبے ګروپ د مومنانو د هغوی مخونه به د څوارلسمے شپے د سپوږمئ په شان وی. د اویازره بندیانو به وی چه د هغو سره به حساب کتاب نهٔ کیږی. د هغے نه پس ګروپ به د ښهٔ پرقیدونکی ستورو پشان وی بیا د هغے نه پس د هغوی نه لاند ے تر د ے پور ے چه د شفاعت وخت به راشی او خلق به شفاعت کوی او د جهنم نه به راوبستلے شی. او هغه څوک هم چا چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ویلی وی او د هغهٔ په زړهٔ کښ د وربشے ددانے په مقدار هم نیکی وی او ښهٔ والے وی دغه خلق به د جنت په غولی کښ واچولے شی او جنتی خلق به په هغوی باند ے اُوبهٔ تویوی او په د ے شان به هغه تازه کیږی لکه چه بوټی په اُوبو تازه کیږی. او د هغے سوزش او سو ے بالکل ختم شی بیا به هغه سوال د خدائے نه کوی او هر یو ته به دومره ملاویږی لکه تو له دنیا بلکه لس د دنیا برابر [1]

---

[1] دا روایت موقوف د ے په جابر باند ے او د مسلم شرط دا نهٔ د ے. مګر هغوی بیان کړے د ے هغے لره خکه چه هغه مسنداً مروی

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ سَمِعَهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُذُنَيْهِ يَقُولُ إِنَّ اللهَ يُخْرِجُ نَاسًا مِنَ النَّارِ فَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ

د جابرؓ نه روایت دے هغوی اوریدلی دی په خپلو غوږونو د رسول اللهﷺ نه چه فرمایلی ئے وو بیشکه الله تعالی به څو خلقو لره د دوزخ نه را اوباسی او جنت ته به ئے بوځی

عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قُلْتُ لِعَمْرِو بْنِ دِينَارٍ أَسَمِعْتَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يُخْرِجُ قَوْمًا مِنَ النَّارِ بِالشَّفَاعَةِ قَالَ نَعَمْ

د حماد بن زیدؒ نه روایت دے ما د عمرو بن دینارؒ نه تپوس اوکړو ولے تا اوریدلی دی د جابر بن عبد اللهؓ نه د حدیث بیانول د رسول اللهﷺ نه چه الله تعالی به څۀ خلقو لره د جهنم نه را اوباسی د شفاعت په وجه سره هغوی اووے آ اوریدلے دے

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ قَوْمًا يُخْرَجُونَ مِنَ النَّارِ يَحْتَرِقُونَ فِيهَا إِلَّا دَارَاتِ وُجُوهِهِمْ حَتَّى يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی څۀ خلق به په جهنم کښې اوسوزی او د هغه ځائے نه به را اوځی او جنت ته به ځی. د هغوی ټول بدن به سوے وی سوا د مخ نه[1]

عَنْ يَزِيدَ الْفَقِيرِ قَالَ كُنْتُ قَدْ شَغَفَنِي رَأْيٌ مِنْ رَأْيِ الْخَوَارِجِ فَخَرَجْنَا فِي عِصَابَةٍ ذَوِي عَدَدٍ نُرِيدُ أَنْ نَحُجَّ ثُمَّ نَخْرُجَ عَلَى

د یزید بن صهیب ابو عثمان فقیر نه روایت دے. خما په زړۀ کښې د خوارجو یوه خبره راغلې وه (هغه دا چه کبیره گناه کونکے به همیشه همیشه په جهنم کښې وی او کوم چه جهنم ته لاړ شی هغه به بیا د هغے نه

دے په دویمه طریقه سره. او پخپله امام مسلمؒ ددے په رفع باندے تنبیهه کړے ده د ابن ابی شیبه د روایت نه او بیان کړی ئے دی د هغے اسناد او سماع د رسول اللهﷺ نه نوویؒ ویلی دی. راوی په دے مقام باندے غلطي او تحریف او خلط کړے دے او اتفاق کړے دے په دے باندے متقدمینو او متأخرینو چه دا د لیکلو والاغلطی ده. قاضی عیاضؒ ویلی دی د حدیث عبارت په ټولو نسخو کښې داسے دے. یعنی عَنْ كَذَا وَكَذَا انْظُرْ أَيْ ذٰلِكَ فَوْقَ النَّاسِ. چه د هغے ترجمه بیان شوه. لیکن مطلب ترِ نه نۀ معلومیږی. صحیح عبارت دا دے عَلٰى كَوْمٍ. دغه شان روایت کړے دے بعضے اهل حدیثو. او د ابن ابی خیثمه په کتاب کښې د کعب بن مالکؓ نه مروی دے. يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى تَلٍّ وَأُمَّتِي عَلٰى تَلٍّ یعنی جمع کولے به شی خلق د قیامت په ورځ په یو اُوچت ځائے او خما امت په بل اوچت ځائے به وی. او کُوم هم اوچت ځائے ته ویلے کیږی. (اوچته زمکه چه هغهؐ د ضیکرے پشان وی) طبری په خپل تفسیر کښې د ابن عمرؓ په روایت سره بیان کړے دے. چه بیا به پورته اوخیژی محمدﷺ او د هغۀ امت په یو خټ باندے د ټولو خلقو دپاسه قاضی عیاضؒ وائی ددے نه معلومیږی چه د راوی نه د کُوم لفظ اونۀ لوستلے شو. نو هغۀ كَذَا وَكَذَا د هغے په بدله کښې اولیکو بیائے د هغے تفسیر په أَيْ فَوْقَ النَّاسِ سره او د أُنْظُرْ لفظ ئے د تنبیهه دپاره هلته اولیکو. اوس نقل کونکو بعینه دے عبارت لره نقل کړے دے او أُنْظُرْ لره ئے هم په حدیث کښې شریک کړے دے. والله اعلم او هغه به ئے تپوس ئے پښتنے په جنت کښې داخلیږی د بخاری په روایت کښې دی دا به هغه خلق وی چه نۀ منترے کوی نۀ بد فالونه گوری. او په خپل پروردگار اعتماد لری.

[1] ولے چه په مخ سره سجده کولے شی. بل حدیث دے چه ټول د سجدے اندامونه به د سوزیدو نه بچ وی. لکه چه پورته ذکر شو.

النَّاسِ قَالَ فَمَرَرْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ فَإِذَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَالِسٌ إِلَى سَارِيَةٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَإِذَا هُوَ قَدْ ذَكَرَ الْجَهَنَّمِيِّينَ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ مَا هَذَا الَّذِي تُحَدِّثُونَ وَاللهُ يَقُولُ إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَكُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا فَمَا هَذَا الَّذِي تَقُولُونَ قَالَ فَقَالَ أَتَقْرَأُ الْقُرْآنَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَهَلْ سَمِعْتَ بِمَقَامِ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ السَّلَام يَعْنِي الَّذِي يَبْعَثُهُ اللهُ فِيهِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّهُ مَقَامُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَحْمُودُ الَّذِي يُخْرِجُ اللهُ بِهِ مَنْ يُخْرِجُ قَالَ ثُمَّ نَعَتَ وَضْعَ الصِّرَاطِ وَمَرَّ النَّاسِ عَلَيْهِ قَالَ وَأَخَافُ أَنْ لَا أَكُونَ أَحْفَظُ ذَاكَ قَالَ غَيْرَ أَنَّهُ قَدْ زَعَمَ أَنَّ قَوْمًا يَخْرُجُونَ مِنَ النَّارِ بَعْدَ أَنْ يَكُونُوا فِيهَا قَالَ يَعْنِي فَيَخْرُجُونَ كَأَنَّهُمْ عِيدَانُ السَّمَاسِمِ قَالَ فَيَدْخُلُونَ نَهَرًا مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ فَيَغْتَسِلُونَ فِيهِ فَيَخْرُجُونَ كَأَنَّهُمُ الْقَرَاطِيسُ فَرَجَعْنَا قُلْنَا وَيْحَكُمْ أَتُرَوْنَ الشَّيْخَ يَكْذِبُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَجَعْنَا فَلَا وَاللهِ مَا خَرَجَ مِنَّا غَيْرُ رَجُلٍ وَاحِدٍ أَوْ كَمَا قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ

نه رااوځي، نو مونږ راووتو د يو لوئې جماعت سره په دے اراده چه حج اوکړو بيا به د خارجيانو مذهب خوروو هر کله چه مونږ مدينې ته اورسيدو نو څۀ ګورو چه جابر بن عبد الله د يوے ستنې سره ناست دے خلقو ته احاديث د رسول الله ﷺ اوروی هغوی ناڅاپه د دوزخيانو ذکر اوکړو. ما اووے ا اے صحابی د رسول الله ﷺ ته څۀ حديث بيانوے؟ الله تعالی خو فرمايلی دی. اے څما ربه ته چه چالره جهنم ته بوځے نو تا هغۀ لره رسوا کړو. او فرمائی چه د جهنم خلق د هغه ځائے نه وتل اوغواړی نو بيا به په دغے کښې غورځولے شی. اوس ته څۀ وائے؟ هغوی اووے تا قرآن لوستلے دے؟ ما اووے آو لوستلے دے هغوی بيا اووے. تا د حضرت ﷺ مقام اوريدلے دے. يعنی هغه مقام چه هغه به د قيامت په ورځ الله تعالی هغۀ ته عنايت کوی (چه د هغے بيان په دے آيت کښې دے عَسٰى اَنْ يَّبْعَثَكَ) ما اووے آو ما اوريدلے دے. هغوی اووے بيا دغه مقام محمود دے چه د هغے په وجه سره به را اوباسی الله تعالی د جهنم نه هغه خلقو لره چا لره چه هغه اوغواړی بيا ئے بيان کړو د پُل صراط حال او د خلقو د تيريدو په هغه پُل باندے او ماته يره ده. چه ياد نۀ وی پاتے شوے دا. مګر هغوی دا ويلی دی چه څۀ خلق به د هغوی د تلو نه پس د دوزخ نه رااويستلے شی. او په دے شان به رااوځی لکه د آبنوس لرګے. (تور سوزيدلے) بيا به د جنت يو نهر ته بوتلے شی. او هلته به غسل کوی او د کاغذ په شان سپين به رااوځی. دد دے په اوريدو سره مونږ واپس شو او مونږ اووے. خرابی د دی ستاسو ولے دے بوډا دروغ ويل په رسول الله ﷺ باندے (يعنی هغه هيڅ کله دروغ نۀ ويل بيا ستاسو مذهب غلط اوختو) او مونږ ټول واپس شو خپل مذهب ته مګر يو سړے واپس نۀ شو. دغه شان ويلی دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ أَرْبَعَةٌ فَيُعْرَضُونَ عَلَى اللهِ فَيَلْتَفِتُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ أَىْ رَبِّ إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا فَلَا تُعِدْنِي فِيهَا فَيُنْجِيهِ اللهُ مِنْهَا

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ اللهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَهْتَمُّونَ لِذٰلِكَ و قَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ فَيُلْهَمُونَ لِذٰلِكَ فَيَقُولُونَ لَوِ اسْتَشْفَعْنَا عَلَى رَبِّنَا حَتّٰى يُرِيحَنَا مِنْ مَكَانِنَا هٰذَا قَالَ فَيَأْتُونَ آدَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ أَنْتَ آدَمُ أَبُو الْخَلْقِ خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهِ وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ وَأَمَرَ الْمَلَائِكَةَ فَسَجَدُوا لَكَ اشْفَعْ لَنَا عِنْدَ رَبِّكَ حَتّٰى يُرِيحَنَا مِنْ مَكَانِنَا هٰذَا فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ فَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ فَيَسْتَحْيِي رَبَّهُ مِنْهَا وَلٰكِنِ ائْتُوا نُوحًا أَوَّلَ رَسُولٍ بَعَثَهُ اللهُ قَالَ فَيَأْتُونَ نُوحًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ

ابو نعیم فضل بن دکین[1].

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی. د دوزخ نه به څلور سړی راویستلے شي. نو د خدائے مخے ته به حاضر کړے شي. د هغوی نه به یو د جهنم طرفته اوګوری او اُوبه وائی. اے خما مالکه! هر کله چه تا خلاصے راکړو ددے نه نو اوس مو بیا مۀ بوځه دے ته الله تعالی به هغۀ لره خلاصے ورکړی د جهنم نه

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. الله تعالی به د قیامت په ورځ خلقو لره راجمع کړی. بیا به هغه کوشش کوی د هغه مصیبت د لرے کولو. یا به د هغوی په زړۀ کښ خدائے پاک د هغے فکر واچوی. کۀ چرے زمونږ څوک شفارس اوکړی خپل مالک ته دلته د آرام مونډلو دپاره نو غوره ده. نو را به شی آدم ؑ ته او اوبه وائی. تۀ د ټولو خلقو پلار ئے. الله تعالی تا لره په خپل لاس سره جوړ کړے دے. او خپل پیدا کړے روح ئے پتا کښ پوکلے دی. او فرښتو ته ئے حکم اوکړو نو هغوی تا ته سجده ؑ اوکړه. نو تۀ نن زمونږ خلقو سفارش اوکړه الله تعالی ته چه هغه آرام راکړی مونږ لره ددے ځائے د تکلیف نه هغه به اووائی زۀ ددے لایق نۀ یم. او خپله خطا به یاده کړی چه زۀ د الله تعالی نه شرمیږم. لیکن تاسو نوح ؑ له لاړ شئ. نوح ؑ چه الله اول رسول لیږلے دے نوح علیه السلام ته به راشی. نو نوح ؑ به اووائی زۀ ددے لایق نۀ یم او خپله خطا کومه چه تر نه په دنیا کښ شوے وه هغه به

[1] دا دواړه ایتونه د خوارجو د دلیل دی. چه هغه وائی دوزخ له چه لاړ شی بیا به څوک د هغے نه نۀ شی وتلے. حالانکه دا ایتونه د کفارو او مشرکانو په باب کښ دی. چه هغه به همیشه په جهنم کښ وی. په حدیث کښ د سماسم لفظ دے. چه هغه د سمسم جمع ده. او سمسم وائی تل ته. دهغے لرګی هم نمر ته په ایخودلو سره توریږی. او بعضو ویلی دی په اصل کښ دا لفظ ساسم وو. په هغے کښ تحریف اوشو سماسم شو. او سماسم ویلے شی یو تور لرګی ته په مثل د آبنوس. او بعضو ویلی دی سماسم ویلے شی آبنوس ته (نووی مختصراً) کیدے شي چه د ساسم سیسم وی. ممکنه ده دا لرګے هغه وی چه هغے ته په عام طور په اردو کښ شیشم ویلے کیږی.

لَسْتُ هُنَاكُمْ فَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ فَيَسْتَحْيِي رَبَّهُ مِنْهَا وَلَكِنِ ائْتُوا إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي اتَّخَذَهُ اللَّهُ خَلِيلًا فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ فَيَسْتَحْيِي رَبَّهُ مِنْهَا وَلَكِنِ ائْتُوا مُوسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَلَّمَهُ اللَّهُ وَأَعْطَاهُ التَّوْرَاةَ قَالَ فَيَأْتُونَ مُوسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ فَيَسْتَحْيِي رَبَّهُ مِنْهَا وَلَكِنِ ائْتُوا عِيسَى رُوحَ اللَّهِ وَكَلِمَتَهُ فَيَأْتُونَ عِيسَى رُوحَ اللَّهِ وَكَلِمَتَهُ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَلَكِنِ ائْتُوا مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدًا قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتُونِي فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فَيُؤْذَنُ لِي فَإِذَا أَنَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللَّهُ فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ قُلْ تُسْمَعْ سَلْ تُعْطَهْ اشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَحْمَدُ رَبِّي بِتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ رَبِّي ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ أَعُودُ فَأَقَعُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَدَعَنِي ثُمَّ يُقَالُ

رایاده کړی او شرمیږی به د خپل پروردګار نه او اوبه وائی تاسو لاړ شئ ابراهیمؑ ګره. چه هغه الله تعالی خپل دوست جوړ کړے وو. هغه ټول خلق به ابراهیمؑ له راشی هغه به اووائی زهٔ ددے لایق نهٔ یم او هغه خطا کومه چه د هغهٔ نه شوے وه به رایاده کړی چه زهٔ د خدائے نه شرمیږم لیکن تاسو لاړ شئ موسیٰؑ لره چه د هغهٔ سره الله تعالی خبرے کولے او هغهٔ ته ئے تورات شریف عنایت کړے وو. هغه به ټول موسیٰ ته راشی هغه به اووائی زهٔ ددے لایق نهٔ یم. او هغه خطا کومه چه د هغهٔ نه شوے وه به یاده کړی او د خدائے نه به شرمیږی. لیکن تاسو لاړ شئ عیسیٰؑ ته هغه به اووائی زهٔ ددے لایق نهٔ یم. لیکن تاسو لاړ شئ محمد ﷺ ته هغه داسے بنده دے د اللهؒ چه د هغهٔ وړمبی او ورستنی ټول ګناهونه معاف شوی دی رسول الله ﷺ اوفرمائیل بیا به هغه خلق ټول ماله راشی. زهٔ به د خپل پروردګار نه اجازت غواړم (د رسیدو) ماته به اجازت ملاویږی. هر کله چه زهٔ هغهٔ لره اووینم نو په سجده به زهٔ پریوځم. بیا به هغه ما پریږدی په سجده کښ د کومے پورے چه غواړی او وروستو د هغے نه به اوویلے شی یا محمدؐ! اوچت کړه خپل سر لره اووایه چه څهٔ وائے اورم او غواړه چه څهٔ غواړے درکولے به شی. او ستا شفاعت به قبلیدے شی. بیا به زهٔ سر اوچت کړم. او د خپل پروردګار تعریف به کوم په هغه شان سره څنګه چه هغه ماته ښودلے وی. بیا به سفارش کوم نو یو حد به څما دپاره مقرر کړے شی. زهٔ به د هغه حد په موافق خلقو لره د دوزخ نه راواویاسم. او جنت ته به ئے بیایم او دوباره به خپل پروردګار ته راځم او په سجده به پریوځم. هغه به ما پریږی په سجده کښ د کومے چه غواړی. بیا به حکم اوشی. اے محمدؐ خپل سره اوچت کړه او وایه اورم ئے. غواړه درکوم ئے. سفارش کوه قبلولے به

ارْفَعْ رَأْسَكَ يَا مُحَمَّدُ قُلْ تُسْمَعْ سَلْ تُعْطَهْ اشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَحْمَدُ رَبِّي بِتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ قَالَ فَلَا أَدْرِي فِي الثَّالِثَةِ أَوْ فِي الرَّابِعَةِ قَالَ فَأَقُولُ يَا رَبِّ مَا بَقِيَ فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ أَيْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ قَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ قَتَادَةُ أَيْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ

شي. زۀ به خپل سر اوچت کړم او د خپل مالک تعریف به اوکړم. څنګه چه هغه ماته اوښائي. بيا به زۀ سفارش کوم. نو يو حد به اوټاکلے شي. زۀ به د هغے حد مطابق خلقو لره د دوزخ نه رااوباسم او په جنت کښ به ئے داخلوم. راوي وائي ماته ياد نۀ دي چه هغه په دريم يا څلورم ځل کښ اوفرمايل . زۀ به اووايم چه اے خما مالکه ! اوس خو څوک په دوزخ کښ پاتے نۀ شول مګر هغه چه د قرآن په موجب هميشه په دوزخ کښ د اوسيدو لايق دے. قتادهؒ ويلي دي. يعني د چا چه هميشه اوسيدل هلته ضرور دي[1].

[1] څو څيزونو لره الله تعالى په خپل خاص لاس مبارک سره جوړ کړي دي د هغے بزرګئ ورکولو نه يو په هغے کښ آدم عليه السلام دے دويم توريت لره ئے په تختو باندے په خپل لاس سره ليکلے وو. دريم په جنت العدن کښ ئے اونے په خپل لاس سره لګولے دي. دغه شان خو تول څيزونه د خدائے په حکم سره پيدا شوي دي. خو دے څيزونو لره خدائے پاک په خپل خاص لاس سره جوړ کړي دي لکه چه په حديث کښ راغلي دي خو د خدائے لاس داسے بے شبهے مقدس بے مثال دے لکه د هغۀ ذات مقدس جل شانه. هغه ګناه کړے وو. د هغے اونے نه خوراک د کومے نه چه الله منع کړے وو. نووي رحمه الله وائي عالمانو اختلاف کړے دے. چه د پيغمبرانوؑ نه ګناه صادر کيږي يا نۀ . او قاضي عياض رحمه الله په دے بحث کښ مختصر تقرير کړے دے. هغه داد ے چه د نبوت نه پس د هغوي نه کفر نۀ شي کيدے. بلکه هغه معصوم دي د کفر نه. ليکن د نبوت نه وړاندے خو په دے کښ اختلاف دے. او صحيح داده چه د نبوت نه هم هغه وړاندے د کفر نه معصوم وي. اوس پاتے شو ګناهونه کوم چه د کفر نه کم دي. نو د کبيره ګناه نه په اتفاق سره هغوي معصوم دي. او په دے شان د هغوي غلطيانو نه چه هغه په تبليغ رسالت کښ وي. قولاً يا فعلاً دا مذهب دے د استاذ ابو مظفر اسفرايني. زمونږ د ائمه خراسان نه او مشائخ صوفياو نه او د بعضو په نز دا غلطي کيدے شي. لکه زمونږه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته سهوه اوشوه په مانځۀ کښ ليکن ضروري ده چه هغه خبر شي د خپلے غلطئ نه يا په هغه وخت يا د وفات نه وړاندے او دا مذهب دے د جمهور علماؤ او اکثرو محقِّقينو. اوس پاتے شول صغيره ګناهونه. نو کوم صغيره ګناهونه چه هغه قسم دي چه د هغے نه لاندے والے او کنجوسي او بذدلي اوځي د هغے نه په اتفاق سره معصوم دي. او باقي صغيره ګناهونو ک اختلاف دے. اکثر فقهاء او محدثين سلف او خلف په دے طرف تلي دي. چه دد ے قسم صغيره ګناهونه د هغوي نه کيدے شي. او دليل د هغوي د قرآن آيتونه او حديثونه دي. او يو جماعت د محقِّقينو فقهاء او متکلمينو نه په دے طرف تلے دے. چه هغه پاک دي د صغائرو نه هم لکه څنګه چه د کبائرو نه هم پاک دي. او د نبوت منصب مانع دے دداسے ګناهونو د کولو نه. او قصداً د خدائے د مخالفت کولو نه. او کوم احاديث او آيتونه چه هغه قسم راغلي دي چه د هغے نه د پيغمبرانو ګناهګار کيدل اوځي. هغه تاويل کړے شوي دي. يا محمول دي په سهوه باندے. يا د الله اذن وو په بعضے څيزونو کښ . ليکن هغوي ته يره شوه په هغے کښ د مواخذے. يا بعضے څيزونه داسے دي. چه هغه د نبوت نه مخکښ د هغوي نه شوي وي. او دا مذهب حق دے. ځکه چه د انبياؤ د اقوالو او افعالو پيروي کول لازم دي. بيا کۀ چرے هغه خطاوار وي نو په ډيرو افعالو کښ به د هغو تابعداري کول لازم نۀ وي. قاضي عياضؒ ويلي دي چه مونږ دغه مطلب لره په خپل کتاب شفاء

كښې بنه بيان كړے دے چه داسے په نورو كتابونو كښې نه ملاويږي.او دد ے خبرے نه مونږ بريږي چه دا مذهب منسوب دى د خوارجو او معتزلو او مبتدعو ولو په طرف خكه چه دهغوى مطلب دد ے مذهب نه بل دے. هغه چه په صغيره گناه سره كافر كيدل او مونږ پاك يو دد ے خيال نه او دا چه كومے خطاياني د انبياؤ بيان كړى شوى دى لكه د ادم عليه السّلام په هيره سره د هغه اونى نه خوړل او د نوح عليه السلام خبرے كافرو ته او قتلول د موسى عليه السلام وو.كافر لره او بچ كول د ابراهيم عليه السلام لره خپل خان د كافرو د شرنه يو خبره به نے اوكړه چه هغه به په يو شان سره ربنتيا كيدله دا په حقيقت كښې د نورو په حق كښې گناه نه ده. مگر د انبياؤ دپاره زورنه وه يا هغوى اويريږى د هغه خبرونه هم په وجه د قرب او نزديكت. ختم شو كلام د قاضى عياض. امام ابو عبد الله مازرى وائى چه مورخينو ليكلى دى چه حضرت ادريس عليه السلام د نوح عليه السلام نيكة وو. بيا كه چرے دا ثابته شوه چه ادريس عليه السلام پيغمبر وو نو د مورخينو دا قول صحيح نه دے چه هغه د نوح عليه السلام نيكة وو. ولے چه د حديث نه صفا دا امر وتلے دے چه نوح د ټولو نه ورمبے پيغمبر دے چه دنيا ته راغے او بعضو ويلى دى چه په حديث كښې د رسول لفظ دے او كيدے شى چه ادريس عليه السلام نبى وى رسول نه وى. قاضى عياض ويلى دى. بعضے وائى چه ادريس الياس عليه السلام ته ويلے شى. او هغه پيغمبر وو د بنى اسرائيلو د يوشع بن نون سره په دے صورت كښې به اعتراض نه وى. په دے شان به دا اعتراض نه شى كيدے. چه ادم عليه السلام او شيث عليه السلام دواړه پيغمبران وو. او هغه د نوح عليه السلام نه مخكښې وو. ولے ادم عليه السلام ته د خپل اولاد د تعليم حكم شوے وو او هغه كافر نه وو. دغه شان شيث عليه السلام چه هغه خليفه وو د ادم عليه السلام. كافرانو ته د هدايت دپاره ليږل خو دا حكم د ټولو نه مخكښې د نوح عليه السلام دپاره شوے و. قاضى عياض ويلى دى د ابو الحسن بطال مذهب دادے چه ادم عليه السلام رسول نه وو.دد ے دپاره چه دا اعتراض را نه شى. حالانكه د ابوذر رضى الله عنه اوږد حديث نص صريح دے. چه ادم عليه السلام او ادريس دواړه رسولان وو. نووى يعنى خليل قاضى عياض ويلى دى دَخلت په اصل كښې معنى خاص كول او راغونډول او صفا كول دى او بعضو ويلى دى چه دَخلت معنى پريكول. او ابراهيم عليه السلام ته نے خليل اووے خكه چه هغه قطع كړى وو ټولو حاجتونو لره د مخلوق نه. او پريخودى نے وو هغے لره په خپل رب. او بعضو ويلى دى دخلت معنى رښتونى او صفا دوستى ده چه هغه باعث وى د اسرار او رموز د تخلل يعنى د رازونو د راتلو. او بعضو ويلى دى دخلت معنى محبت دے. ختم شو كلام د قاضى عياض رحمه الله. ابن انبارى ويلى دى خليل ويلے شى دوست ته چه د هغهٔ دوستى او محبت پوره وى او محبوب هغه ته چه د هغهٔ په محبت كښې څهٔ نقص او خلل نهٔ وى. واحدى ويلى دى دا قول مختار دے. خكه چه الله خليل دے د ابراهيم عليه السلام او ابراهيم عليه السلام خليل دےد الله او په كوم صورت كښې چه دخلت معنى د قطع حاجت شى نو په دغه صورت كښې الله ته د ابراهيم خليل نهٔ شى ويلے كيدے (نووى) د موسى عليه السلام سره الله تعالى خبرى كړى دى په دے باندے اهل سنتو اجماع كړے ده. چه دا كلام په خپل ظاهر باندے محمول دے او الله تعالى حقيقتاً د حضرت موسى عليه السلام سره خبرى كړى دى. او موسى عليه السلام اوريدلى دى بلاواسطه او كلام د الله يو صفت دے چه د مخلوق د كلام مشابه نهٔ دے مراد د ورمبو گناهونو نه هغه گناهونه چه هغه د نبوت نه وړاندے شوى وى او د وروستونه د نبوت نه پس گناهونه مراد دى او بعضو ويلى دى چه مراد د امت ورمبى او وروستى گناهونه دى. په دے صورت كښې به د بخشش نه مراد د هغوى د گناهونو بخشش وى. يا هميشه دپاره د جهنم نه بچ كيدل او بعضو ويلى دى چه مراد د هغه گناهونو نه هغه هيريدل پاتى كيدل دى چه د هغوى نه شوى وو. او بعضو ويلى دى چه د ورمبو گناهونو نه مراد د ادم عليه السلام خطاء ده. او دوروستو نه د امت گناهونه مراددى. او بعضو ويلى دى چه دا بره تقدير فرض دى يعنى كهٔ ستاسو څهٔ گناهونه دى نو هغه ټول مغفور او معاف دى. او بعضو ويلى دى چه مقصود د هغے نه پاكى ده د هغوى د گناهونو نه (نووى) نصارى په دے ايت سره لِيَغْفِرَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ. زمونږ په پيغمبر صلى الله عليه واله وسلم باندے اعتراض كوى چه

هر کله هغه پخپله گنهګار وو نو نورو لره به د ګناهونو نه خنګه پاک کړي. د هغې جواب داد ے. چه د ورمبو کتابونو اسمانیو نه د نورو پیغمبرانو هم په ګناهونو کښې مبتلاکیدل راوتلي شي بیا چه کوم جواب د هغوی د طرفه ورکیدے شي هغه جواب زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم د طرفه هم کیدے شي. دویمه دا چه ګناه او تقصیر د عامو خلقو خانله دي او د خاصو خلقو خانله دي او په دنیا کښې هم دا مسئله منلے شوے ده چه د عامو خلقو نه د ډیرو داسے خبرو شکایت نه وي. کوم چه د خاصو بندیګانو دپاره لوئے تقصیرونه ګنړلے شي. دغه شان د پیغمبرانو او د مقربو خلقو ګناهونه داسے دي چه هغه زمونږ په حق کښې هډو ګناه هم نه ده. لیکن د تقرب په وجه سره هغه ګناه ګنړلے شي. او چونکه انبیاء بشر دي. او محال ده چه بشر د د لوازم بشریت نه پاک وي. خکه چه خامخا څۀ تقصیر یا غفلت په څۀ وخت کښې د هغوی نه واقع کیږي. بیا چه مالک د خپل چا بنده داسے تقصیراتو لره هم د یو قلم سره معاف کړي نو دا د هغۀ کمالِ محبت دے د هغۀ بنده سره. او په هغې کښې عظمت او بزرګي ده. د هغۀ بنده په نورو بندیګانو باندے. نو دا آیات په حقیقت کښې یو شرف دے زمونږ د پیغمبر دپاره نۀ نقصان لکه چه مخالفین خیال کوي. خدائے پاک د هغوی ته هدایت اوکړي. التبه د هغوی اعتراض په دے صورت کښې صحیح کیدو چه مونږ خپل پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم لره نعوذبالله. د بندګۍ نه اوچت د خدائے مقام ته رسولے. لکه چه هغوی د خپل پیغمبر سره کړي دي. دا داسے د بے وقوفۍ او بے عقلۍ خبره ده. چه ټولو مذهبونو والاد نصاراؤ په دے خیال باندے په زوره زوره خندا کوي. او د دے خیال په وجه سره د هغوی ټول مذهب د عقلاؤ په ټر لغوه شوے دے لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ. یعني هر کله چه نور پیغمبران به هغوی ته جواب ورکړي او اُوبه وائي چه مونږ د دے کار لائق نه یو نو هغه به خما خواله راشي. قاضي عیاض ویلي دي د نورو پیغمبرانو دا ویناکول به په وجه د عاجزۍ او انکسارۍ وي. او کیدےشي اشاره وي د هغې خبرے چه دا درجه د شفاعت خما درجه نۀ ده. او د هغه نه د وروستو والاده او کیدے شي چه هغوی ته معلومه وي چه دا درجه زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم ده. لیکن هر یو د خپل خان نه پس په بل باندے حواله ورکړه تردے چه رو رو دا سلسله زمونږه پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم ته رااورسیده او د هغۀ غوره والے په ټولو پیغمبرانو باندے ظاهر شو. ادد ے حدیث نه دا خبره هم وتلے شي. چه په لویو لویو کارونو کښې ورمبۍ بوډاګانو او بزرګو خلقو طرفته رجوع کول پکار دي. او زمونږ پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم کوم چه به دهغه کار نۀ انکار نۀ کوي او تیار به شي ورته هغه دد ے وجے نه چه هغه به پوهه وي په د ے باند ے چه دا خما کار د ے. او دا عزت خدائے پاک خما دپاره ایخود ے د ے. نووي رحمه الله ویلي دي. الله تعالی چه کوم د هغه خلقو په زړونو کښې به دا واچوي چه ورمبی به آدم علیه السلام له لاړ شي بیا نوح علیه السلام له. بیا ابراهیم علیه السلام له. په د ے شان د اخره پور ے. په د ے کښې حکمت داد ے. چه زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم فضیلت په نورو پیغمبرانو باند ے معلوم شي. ولے چه کۀ چر ے د وراند ے نه هغه د حضرت صلی الله علیه واله وسلم خواله راتلے نو دد ے خبر ے احتمال پاتے کیږي. چه د نورو پیغمبرانو نه هم دا کار ممکن وو. لیکن هر کله چه هغوی د ټولو نه سوال اوکړو او چا قبول نۀ کړو نود هغۀ بزرګي په ټولو باند ے ظاهره شوه. او د جناب الوهیت نه د هغۀ کمال قرب ظاهر شو. د د ے حدیث نه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم غوره والے په ټولو مخلوقاتو باند ے خواه کاهغه پیغمبران دي یا نور بندیګان، یا پیریان یا فرښتے دي ظاهریږي. ولے چه دومره لوئے کار یعني شفاعت عظمی به د چا بل چا نه نۀشي کیدلے اوهغوی صلی الله علیه واله وسلم به هغې لره قبلوي. یا الله ته مونږ لره او ټولو مسلمانانو رورنړو لره د هغۀ شفاعت عظمی نصیب کړے آمین یارب العالمین. دد ے حدیث نه صفا معلومیږي چه د شفاعت اجازت به د هغۀ دپاره د قیامت په ورځ وي. اګر چه دا درجه الله تعالی خاص د هغۀ دپاره ایخود ے ده خو د هغې اجازت به په قیامت ورکوي. اوس چه کوم خلق خیال کوي چه د شفاعت اجازت هغۀ ته شو ے د ے د هغوی خیال غلط د ے او مخالف د ے د قرآن نه. په قرآن کښې موجود دي چه هلته به د چا شفاعت کارآمد نۀ وي. مګر چا ته چه خدائے اجازت اوکړي. اوس دا شفاعت به هم د هغه خلقو دپاره وي. چه د هغوی خلاصے ورکونکے او د

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْتَمِعُ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَهْتَمُّونَ بِذٰلِكَ أَوْيُلْهَمُونَ ذٰلِكَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ ثُمَّ آتِيهِ الرَّابِعَةَ أَوْأَعُودُ الرَّابِعَةَ فَأَقُولُ يَا رَبِّ مَا بَقِيَ إِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ

د حضرت انس ؓ نه دویم روایت هم دغه شان دے. په دے کښې دادي چه زهٔ به خپل پروردګار ته په څلورم ځل راشم او عرض به اوکړم. چه اے پروردګاره! اوس خو په دوزخ کښې څوک باقي پاتے نهٔ شو مګر هغه څوک چه هغه قرآن پاک بند کړی دی. (یعنی د قرآن په موجب هغه همیشه په دوزخ کښې د اوسیدو سزاوار دی)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَجْمَعُ اللهُ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْهَمُونَ لِذٰلِكَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا وَذَكَرَ فِي الرَّابِعَةِ فَأَقُولُ يَا رَبِّ مَا بَقِيَ فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ أَيْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. الله تعالی به راغونډ کړی مومنانو لره د قیامت په ورځ هغوی ته به خیال راشي د اخره پورے لکه چه پورته حدیث تیر شو. په دے کښې دادي چه هغه به په څلورم وار عرض اوکړی چه اے پروردګاره! اوس خو په جهنم کښې څوک پاتے نهٔ شو. مګر څوک چه د ارٰن په حکم سره حصار شوی دی یعنی څوک چه د همیشه دپاره د اوسیدو مستحق دی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَزِنُ شَعِيرَةً ثُمَّ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَزِنُ بُرَّةً ثُمَّ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَزِنُ ذَرَّةً زَادَ ابْنُ مِنْهَالٍ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ يَزِيدُ فَلَقِيتُ شُعْبَةَ فَحَدَّثْتُهُ

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی رااوځی به د دوزخ نه هغه بنده چه هغهٔ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ویلی وی. او د هغهٔ په زړهٔ کښې د وربشے د دانے په مقدار نیکی وی. بیا به رااوځی د دوزخ نه هغه بنده چه هغهٔ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ویلی وی. او د هغهٔ په زړهٔ کښې د غنم د دانے برابر نیکی وی. بیابه رااوځی د دوزخ نه هغه سړے چه هغهٔ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ویلی وی. او د هغهٔ په زړهٔ کښې د زرے برابر نیکی وی.

عذاب نه بچ کونکے سوا د خدائے پاک نه څوک نهٔ وی. خو په ظاهر کښې د پیغمبرانو د رتبے اوچتولو دپاره او د هغوی د خوشحالولو دپاره به هغوی ته سفارش کولے شی. او د هغوی سفارش به قبلولے شی دا نهٔ دی ګنړل پکار چه دا پیغمبر د خدائے په دربار کښې د څهٔ قسم زور معاذالله یا دباؤ لرے شی چه خدائے به د هغے وجے نه د هغهٔ سفارش منی. ولے چه د خدائے تعالی هغه شان دے چه په هغه باندے د رتی په مقدار د چا زور یا دباؤ نشته او د لویو نه لوئے پیغمبر او بنده مقرب هم هره یوه خبره او حاجت د هغهٔ نه داسے غواړی لکه بنده چه د خپل مالک نه او غلام د خپل صاحب نه چه غواړی. یعنی کافر او مشرک لکه چه الله تعالی فرمائی. الله نهٔ بخی شرک لره او ددے نه ثابتیږی مذهب د خاوندانو د حق. چه په دے باندے اجماع کړے ده سلفو چه کوم سړے په توحید باندے مړ شو هغه به همیشه دپاره په جهنم کښې نهٔ پاتے کیږی

بِالْحَدِيثِ فَقَالَ شُعْبَةُ حَدَّثَنَا بِهِ قَتَادَةُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَدِيثِ إِلاَّ أَنَّ شُعْبَةَ جَعَلَ مَكَانَ الذَّرَةِ ذُرَةً قَالَ يَزِيدُ صَحَّفَ فِيهَا أَبُو بِسْطَامَ

عَنْ مَعْبَدِ بْنِ هِلاَلٍ الْعَنَزِيِّ قَالَ انْطَلَقْنَا إِلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَتَشَفَّعْنَا بِثَابِتٍ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّي الضُّحَى فَاسْتَأْذَنَ لَنَا ثَابِتٌ فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ وَأَجْلَسَ ثَابِتًا مَعَهُ عَلَى سَرِيرِهِ فَقَالَ لَهُ يَا أَبَا حَمْزَةَ إِنَّ إِخْوَانَكَ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ يَسْأَلُونَكَ أَنْ تُحَدِّثَهُمْ حَدِيثَ الشَّفَاعَةِ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ مَاجَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ لَهُ اشْفَعْ لِذُرِّيَّتِكَ فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِإِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلاَم فَإِنَّهُ خَلِيلُ اللهِ فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُوسَى عَلَيْهِ السَّلاَم فَإِنَّهُ كَلِيمُ اللهِ فَيُؤْتَى مُوسَى فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِعِيسَى عَلَيْهِ السَّلاَم فَإِنَّهُ رُوحُ اللهِ وَكَلِمَتُهُ فَيُؤْتَى عِيسَى فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

شعبه په دے حدیث کښں په لیکلو کښں غلطی کړے ده او په ځائے د زرے (چه د هغے معنٰی میږی دی) هغوی ذُرَه روایت کړے دے (چه هغه یوه غله ده چه هغے ته جُوار ویلے شی)

د معبد بن هلال عنزی نه روایت دے چه مونږ د انس بن مالکؓ خواله لاړو او د ثابت سفارش مو اوغوښتو (د هغهٔ سره د ملاقات دپاره) آخر مونږ هغه ته اورسیدو. هغهٔ د چاشت مونځ کولو. ثابت زمونږ دپاره اجازت اوغوښتو دننه تلو او مونږ دننه لاړو. هغه ثابت د ځان سره په تخت باندے کیښنولو. ثابت اووے اے ابوحمزه (دا د انسؓ کنیت دے) ستا ورونه بصرے والا غواړی چه مونږ ته د شفاعت حدیث واوره وه. هغوی اووے مونږ ته بیان کړے دے حضرت محمدﷺ. هر کله چه د قیامت ورځ شی. نو خلق به اوبریږی د یو بل خواله به ځی. اول به د حضرت آدمؑ خواله راشی. او اوبه وائی ته د خپل اولاد سفارش اوکړه (خدائے ته د دے دپاره چه هغه خلاصے راکړی د دے افت نه) هغه به اووائی زهٔ د دے لائق نهٔ یم لیکن تاسو ابراهیمؑ له لاړ شئ. هغه د الله دوست دے. پس خلق به د هغهٔ خواله لاړ شی. هغه به ورته اووائی زهٔ د دے قابل نهٔ یم لیکن تاسو د موسیٰؑ خواله لاړ شئ هغه کلیم الله دے (یعنی الله بلاوسطه د هغهٔ سره خبرے کړے دی) خلق به د هغهٔ خواله لاړ شی. هغه به اووائی زهٔ د دے لائق نهٔ یم لیکن تاسو د حضرت عیسیٰؑ خواله لاړ شئ. هغه روح الله دے او د هغهٔ کلمه ده (یعنی بے پلاره د خدائے په حکم سره پیدا شوے دے) خلق به د هغهٔ خواله لاړ شی. هغه به اووائی زهٔ د دے لائق نهٔ یم لیکن تاسو حضرت محمدﷺ له لاړ شئ هغه به تول خما خواله راشی. زهٔ به اووایم بنه ده دا خما کار

وسلم فأوتى فأقول أنا لها فأنطلق فأستأذن على ربي فيؤذن لي فأقوم بين يديه فأحمده بمحامد لا أقدر عليه الآن يلهمنيه الله ثم أخر له ساجدا فيقال لي يا محمد ارفع رأسك وقل يسمع لك وسل تعطه واشفع تشفع فأقول رب أمتي أمتي فيقال انطلق فمن كان في قلبه مثقال حبة من برة أو شعيرة من إيمان فأخرجه منها فأنطلق فأفعل ثم أرجع إلى ربي فأحمده بتلك المحامد ثم أخر له ساجدا فيقال لي يا محمد ارفع رأسك وقل يسمع لك وسل تعطه واشفع تشفع فأقول أمتي أمتي فيقال لي انطلق فمن كان في قلبه مثقال حبة من خردل من إيمان فأخرجه منها فأنطلق فأفعل ثم أعود إلى ربي فأحمده بتلك المحامد ثم أخر له ساجدا فيقال لي يا محمد ارفع رأسك وقل يسمع لك وسل تعطه واشفع تشفع فأقول يا رب أمتي أمتي فيقال لي انطلق فمن كان في قلبه أدنى أدنى أدنى من مثقال حبة من خردل من

دے لو زۀ به لاړ شم او د خدائے تعالیٰ نه به اجازت غواړم یعنی د شفاعت دپاره ماته به اجازت ملاؤ شی. زۀ به د هغۀ مخے ته ولاړ یم او دلسے تعریفونه به د هغۀ بیانوم چه هغه زۀ اوس نۀ شم بیانولے په هغه وخت به نے الله ځما په زړۀ کښې اوغورځوی دد ے نه پس به سجده به زۀ پریوځم آخر حکم به اوشی اے محمد ! خپل سر اوچت کړه او وایه زۀ اورم او غواړه بیوبه نے درکوو او شفاعت کوه مونږ به نے قبلوو. زۀ به عرض اوکړم اے ځما مالکه ! امت ځما امت ځما حکم به اوشی ځه او د چا په زړۀ کښې چه د وریشے د دانے یا د جوارو د دانے په مقدار ایمان وی هغه را اوباسه د دوزخ نه زۀ به دغه شان تولو خلقو لره را اوباسم بیا به خپل مالک ته راشم او دغه شان تعریف به اوکړمه او بیا به په سجده پریوزم. حکم به اوشی یا محمد ! خپل سر اوچت کړه. او اووایه چه ځۀ وائے. ستا خبره به اوریدلے شی. او غواړه چه ځۀ غواړے تاته به ملاویږی سفارش کوه ستا سفارش به قبول وی. زۀ به عرض اوکړم مالکه ځما ! امت ځما امت ځما (یعنی زۀ د خپل امت بخښنه غواړم) حکم به اوشی ځه ! او د چا په زړۀ کښې چه د اوړی د دانے برابر ایمان هم وی هغه د جهنم نه را اوباسه زۀ به دغه شان عمل اوکړم او بیا به واپس لاړ شم خپل رب ته او دغه شان تعریفونه به اوکړمه او په سجده به پریوځم حکم به اوشی اے محمد ! خپل سر اوچت کړه او وایه مونږ اورو. غواړه مونږ ئے درکوو. سفارش کوه مونږ ئے قبلووو. زۀ به عرض اوکړم اے مالکه ځما ! ځما امت. حکم به اوشی. لاړ شه ! او د چا په زړۀ کښې چه د اوړی د دانے نه هم کم ایمان وی. هغۀ لره د جهنم نه را اوباسه زۀ به لاړ شم او دغه شان به اوکړم. معبد بن هلال وائی دا د انس حدیث دے. چه هغوی مونږ ته بیان کړو. بیا مونږ د هغۀ د خواه نه

إِيمَانٍ فَأَخْرِجْهُ مِنَ النَّارِ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ هٰذَا حَدِيثُ أَنَسٍ الَّذِي أَنْبَأَنَا بِهِ فَخَرَجْنَا مِنْ عِنْدِهِ فَلَمَّا كُنَّا بِظَهْرِ الْجَبَّانِ قُلْنَا لَوْ مِلْنَا إِلَى الْحَسَنِ فَسَلَّمْنَا عَلَيْهِ وَهُوَ مُسْتَخْفٍ فِي دَارِ أَبِي خَلِيفَةَ قَالَ فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ فَسَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَقُلْنَا يَا أَبَا سَعِيدٍ جِئْنَا مِنْ عِنْدِ أَخِيكَ أَبِي حَمْزَةَ فَلَمْ نَسْمَعْ مِثْلَ حَدِيثٍ حَدَّثَنَاهُ فِي الشَّفَاعَةِ قَالَ هِيهِ فَحَدَّثْنَاهُ الْحَدِيثَ فَقَالَ هِيهِ قُلْنَا مَا زَادَنَا قَالَ قَدْ حَدَّثَنَا بِهِ مُنْذُ عِشْرِينَ سَنَةً وَهُوَ يَوْمَئِذٍ جَمِيعٌ وَلَقَدْ تَرَكَ شَيْئًا مَا أَدْرِي أَنَسِيَ الشَّيْخُ أَوْ كَرِهَ أَنْ يُحَدِّثَكُمْ فَتَتَّكِلُوا قُلْنَا لَهُ حَدِّثْنَا فَضَحِكَ وَقَالَ خُلِقَ الْإِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ مَا ذَكَرْتُ لَكُمْ هٰذَا إِلَّا وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُحَدِّثَكُمُوهُ ثُمَّ أَرْجِعُ إِلَى رَبِّي فِي الرَّابِعَةِ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فَيُقَالُ لِي يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ يُسْمَعْ لَكَ وَسَلْ تُعْطَ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ ائْذَنْ لِي فِيمَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ قَالَ لَيْسَ ذَاكَ لَكَ أَوْ قَالَ لَيْسَ ذَاكَ إِلَيْكَ وَلٰكِنْ وَعِزَّتِي وَكِبْرِيَائِي

رااووتو. هر کله چه دجبّان (قبرستان) اوچتے حصے ته اورسیدو. نو مونږ د حسن (بصری) په طرف لاړو او هغهٔ ته مو سلام اوکړو. او هغه د ابوخلیفه په کور کښې پټ شوے وو (د حجاج بن یوسف ظالم د ېرے نه) آخر مونږ د هغهٔ خواله لاړو او هغهٔ ته مو سلام اوکړو مونږه اووے اے ابو سعید! مونږ ستا د رور ابوحمزه (انس) د خواه نه راغلی یو. هغوی د شفاعت په باب کښې یو حدیث مونږ ته بیان کړو چه داسے حدیث مونږ نهٔ وو اوریدلے. هغوی اووے آو. بیان کړئ مونږ هغه حدیث هغهٔ ته بیان کړو هغوی اووے دا حدیث خو هغوی مونږ ته شل کاله مخکښې بیان کړے وو. هر کله چه هغه تکړه وو (یعنی دومره بوډا نهٔ وو لکه څنګه چه اوس دے) اوس هغوی څهٔ پرېخودل هغه ئے هیر شو یا ئے تاسو ته بیانول مناسب نهٔ ګڼړل داسے دِ نهٔ وی چه تاسو په اعتماد کښې کینئ (او په نیکو عملونو کښې سستی شروع کړئ) مونږ هغهٔ ته اووے هغه څهٔ دے؟ مونږ ته ئے بیان کړه. ددے په اوریدو سره هغه اوخندل او اوئے ویل چه د انسان په پیدائش کښې تادی ده. ما په تاسو باندے دا قصه ځکه ذکر کوله چه زهٔ تاسو ته بیان کړم دغے تکړے لره (کومه چه انس پرېخودے ده. یعنی تاسو ډېرزر په تادئ کښې درخواست اوکړو د بیانولو او کهٔ چرے تاسو درخواست نهٔ کولے نو هم ما بیانولو) رسول الله فرمائیلی دی. بیا به واپس شم خپل پروردګار ته په څلورم ځل. او په دغه شان به تعریف او توصیف کوم. بیا به په سجده پریوځم. ماته به حکم اوشی اے محمد! سر اوچت کړه اووایه مونږ اورو غواړه مونږ درکوو. سفارش کوه مونږ ئے قبلوو. په دغه وخت به زهٔ عرض اوکړم چه مالکه څما. ماته اجازت راکړه د هغه بنده هم د جهنم نه د راویستو چا چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ویلی وی (یعنی صرف په

وَعَظَمَتِي وَجِبْرِيَائِي لَأُخْرِجَنَّ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ قَالَ فَأَشْهَدُ عَلَى الْحَسَنِ أَنَّهُ حَدَّثَنَا بِهِ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أُرَاهُ قَالَ قَبْلَ عِشْرِينَ سَنَةً وَهُوَ يَوْمَئِذٍ جَمِيعٌ

توحید باندے یقین لری) الله تعالی به اوفرمائی دا ستا کار نۀ دے. لیکن قسم دے خما په عزت او بزرګئ او جاه وجلال باندے. چه زۀ د جهنم نه راوباسم هغه بنده لره چه هغه لَا إِلٰهَ إِلَّا الله ویلی دی معبد وائی زۀ ګواهی کوم چه حسن دا حدیث مونږ ته بیان کړے دے. او ویلی دی چه هغوی دے لره د انس نه اوریدلے دے. زۀ په دے پوهه یم چه بیان کړے ئے دے ماته شل کاله مخکښ. هر کله چه هغه په طاقت کښ وو (یعنی د هغۀ حافظه ښۀ وه او په بدن کښ ئے طاقت وو)[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً فَقَالَ أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهَلْ تَدْرُونَ بِمَ ذَاكَ يَجْمَعُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْأَوَّلِينَ وَ الْآخِرِينَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَيُسْمِعُهُمُ الدَّاعِي وَيَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ وَتَدْنُو الشَّمْسُ فَيَبْلُغُ النَّاسَ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيقُونَ وَمَا لَا يَحْتَمِلُونَ فَيَقُولُ بَعْضُ النَّاسِ لِبَعْضٍ أَلَا تَرَوْنَ مَا أَنْتُمْ فِيهِ أَلَا تَرَوْنَ مَا قَدْ بَلَغَكُمْ أَلَا تَنْظُرُونَ مَنْ يَشْفَعُ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ فَيَقُولُ بَعْضُ النَّاسِ لِبَعْضٍ ائْتُوا آدَمَ فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ يَا آدَمُ أَنْتَ أَبُو الْبَشَرِ خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهِ وَنَفَخَ

د ابوهریره نه روایت دے چه یو ورځ رسول الله ﷺ ته غوښه راوړے شوه. نو د لاس غوښه هغۀ ته وړکړے شوه. او د لاس غوښه د هغۀ ډیره خوښه وه. هغوی په غاښونو سره هغه اوشوکوله او بیائے او فرمایل سردار به یم زۀ د ټولو خلقو د قیامت په ورځ. او تاسو پوهه یئ چه په څۀ وجه سره الله تعالی به راجمع کړی د قیامت په ورځ وړمبو او ورستو لره په یو میدان کښ تر دے پورے چه د چغو والا آواز به دا ټول اوریدے شی. او دلیدونکو نظر به په دے ټولو باندے پریوتے شی. او نمر به رانژدے کړے شی. او په خلقو باندے به هغه برداشت طاقت نۀ وی آخر په خپلو کښ به یو بل ته اووائی. څئ چه د آدم خواله لاړ شو. او د هغۀ خواله به راشی او اُوبه وائی. اے آدم تۀ د ټولو خلقو پلار ئے. الله تعالی تا لره په خپل لاس سره پیدا کړے دے. او خپل روح ئے په تا کښ پوکلے دے. او فرښتو ته ئے حکم اوکړو. هغوی سجده اوکړه تا ته تۀ زمونږ سفارش اوکړه خپل پروردګار ته ولے تۀ نۀ ګورے مونږ په څۀ حال یو. تۀ نۀ ګورے کوم چه په مونږه

[1] نووی رحمه الله ویلی دی دا دے حدیث نه د سلفو او اهل سنتو مذهب ثابتیږی چه ایمان زیاتیږی او کمیږی. او د دے بیان مخکښ تیر شوے دے

فِيكَ مِنْ رُوحِهِ وَأَمَرَ الْمَلَائِكَةَ فَسَجَدُوا
لَكَ اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ
فِيهِ أَلَا تَرَى إِلَى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَيَقُولُ آدَمُ إِنَّ
رَبِّي غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ
مِثْلَهُ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ وَإِنَّهُ نَهَانِي
عَنِ الشَّجَرَةِ فَعَصَيْتُهُ نَفْسِي نَفْسِي
اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي اذْهَبُوا إِلَى نُوحٍ فَيَأْتُونَ
نُوحًا فَيَقُولُونَ يَا نُوحُ أَنْتَ أَوَّلُ الرُّسُلِ
إِلَى الْأَرْضِ وَسَمَّاكَ اللَّهُ عَبْدًا شَكُورًا
اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرَى مَا نَحْنُ فِيهِ أَلَا
تَرَى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَيَقُولُ لَهُمْ إِنَّ رَبِّي قَدْ
غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ
مِثْلَهُ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ وَإِنَّهُ قَدْ
كَانَتْ لِي دَعْوَةٌ دَعَوْتُ بِهَا عَلَى قَوْمِي
نَفْسِي نَفْسِي اذْهَبُوا إِلَى إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللَّهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُونَ
أَنْتَ نَبِيُّ اللَّهِ وَخَلِيلُهُ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ
اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ
أَلَا تَرَى إِلَى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَيَقُولُ لَهُمْ
إِبْرَاهِيمُ إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا
لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ وَلَا يَغْضَبُ بَعْدَهُ
مِثْلَهُ وَذَكَرَ كَذَبَاتِهِ نَفْسِي نَفْسِي اذْهَبُوا
إِلَى غَيْرِي اذْهَبُوا إِلَى مُوسَى فَيَأْتُونَ

باندې مصیبت دې. ادمؑ به اووائي نن خما پروردګار په غصه کښې
دې. او په داسې غصه کښې دې چه چرته داسې په غصه شوې نه وو.
نه به غصه شي. او هغه زۀ منع کړې وم د اونې نه لیکن ما د هغۀ
نافرماني اوکړه (او د هغې اونې نه مې اوخوړه) نن ماته په خپله د خپل
ځان فکر دې. تاسو چا بل چا له لاړ شئ. د نوحؑ خواله ورشئ بیا به
هغه ټول خلق د نوحؑ خواله لاړ شي او ورته به وائي. اې نوحؑ! د ټولو
پیغمبرانو نه اول په زمکه راغلې ئې. او الله تعالی تا ته شکر ګزار بنده
ویلې دې. ته زمونږ سفارش اوکړه خپل رب ته ولې ته نۀ ګورې مونږ
په څۀ حال یو او کوم مصیبت چه په مونږ باندې راغلې دې. هغه به
اووائي خما رب نن داسې په غصه کښې دې. چه داسې چرته نۀ غصه
شوې وو او نۀ به غصه شي. او ما خپل قوم ته خیرې کړې وې.
خکه ما ته په خپله د خپل ځان فکر دې. تاسو د ابراهیمؑ خواله
ورشئ. بیا به هغه ټول په یو ځائې د ابراهیمؑ خواله لاړ شي. اووائي به
اې ابراهیمؑ ته د الله نبي ئې او د هغۀ دوست ئې د زمکې والو نه ته
زمونږ سفارش اوکړه. خپل پروردګار ته ولې ته نۀ ګورې چه مونږ په
څۀ حال کښې یو. او کوم مصیبت په مونږ باندې راغلې دې. هغه به
اووائي خما پروردګار نن دومره په غصه دې. چه داسې چرته نۀ غصه
شوې وو او نۀ به غصه شي. او خپلې د دروغو خبرې به بیان کړي
(یعني په دنیا کښې چه هغۀ کوم درې خله دروغ ویلي وو. چه په
حقیقت دروغ نۀ وو خو په ظاهر کښې د واقعې نه د خلاف کیدو په
وجه په هغوی د دروغو اطلاق اوشو، انبیاء کرام د دروغو او د ټولو
ګناهونو نه پاک وي) خکه ماته په خپله خپل فکر دې. او تسو د بل
چا خواله لاړ شئ یعني د موسیٰؑ خواله لاړ شئ. هغه خلق به د موسیٰؑ

مُوسٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ يَا مُوسٰى أَنْتَ رَسُولُ اللهِ فَضَّلَكَ اللهُ بِرِسَالَاتِهِ وَبِتَكْلِيمِهِ عَلَى النَّاسِ اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرٰى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ أَلَا تَرٰى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَيَقُولُ لَهُمْ مُوسٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ وَإِنِّي قَتَلْتُ نَفْسًا لَمْ أُومَرْ بِقَتْلِهَا نَفْسِي نَفْسِي اذْهَبُوا إِلَى عِيسٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتُونَ عِيسٰى فَيَقُولُونَ يَا عِيسٰى أَنْتَ رَسُولُ اللهِ وَكَلَّمْتَ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَلِمَةٌ مِنْهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ فَاشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرٰى مَا نَحْنُ فِيهِ أَلَا تَرٰى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَيَقُولُ لَهُمْ عِيسٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ لَهُ ذَنْبًا نَفْسِي نَفْسِي اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي اذْهَبُوا إِلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتُونِّي فَيَقُولُونَ يَا مُحَمَّدُ أَنْتَ رَسُولُ اللهِ وَخَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ وَغَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرٰى مَا نَحْنُ فِيهِ أَلَا

خواله لاړ شي. او دا به اووائي اے موسیٰ تهٔ د الله رسول ئے. الله تا لره د خپلو پیغامونړ نه بزرګي درکړے ده. او په خپل کلام سره په تولو خلقو باندے تهٔ زمونړ سفارش اوکړه خپل پروردګار ته ولے تهٔ نهٔ ګورے چه مونړ په کوم حال کښ یو. او کوم مصیبت په مونړ باندی راغلے دے. موسیٰ به اووائی چه ځما پروردګار نن داسے په غصه کښ دے. چه داسے هغه نهٔ چرته غصه شوے وو او نهٔ به غصه شی. او ما په دنیا کښ یو قتل کړے وو چه د هغے ماته حکم نهٔ وو. ځکه ځما سره پخپله د خپل ځان فکر دے. تاسو د عیسیٰ خواله لاړ شئ. هغه ټول خلق به د عیسیٰ خواله راشی. او دا به اووائی اے عیسیٰ تهٔ د الله رسول ئے. تا په زانګو کښ د خلقو سره خبرے کړی دی (د پیو د خوراک په وخت)، تهٔ د الله یوه خبره ئے چه غورځولے وے هغهٔ په مریم کښ او د هغهٔ روح ئے. تهٔ سفارش اوکړه زمونړه خپل رب ته ولے تهٔ نهٔ ګورے. مونړ ته چه مونړ په څهٔ حال کښ یو. او کوم مصیبت په مونړ باندے راغلے دے. عیسیٰ به اووائی. ځما پروردګار نن دومره قدرے غسه دے. چه دومره غصه چرته نهٔ وو او نهٔ به چرته شی. او څهٔ ګناه ئے د هغهٔ نهٔ ده بیان کړے (لکه چه نورو پیغمبرانو خپلے خطایائے بیان کړے. ولے چه د حضرت عیسیٰ نه څهٔ ګناه منقول نهٔ ده)، نو ماته خپل فکر دے. او تاسو د بل چا خواله لاړ شئ. د محمد ﷺ خواله لاړ شئ. هغه به ټول ځما خواله راشی. او دا به اووائی اے محمد ﷺ ته د الله رسول ئے او تهٔ خاتم الانبیاء ئے. الله ستا اولنی او ورستنی ټول ګناهونه معاف کړی دی. تهٔ سفارش اوکړه زمونړ خپل رب ته ولے تهٔ زمونړ حال نهٔ وینے او نهٔ ګورے چه مونړ په کوم ګناه کښ ګرفتار یو. ددے په اوریدو سره به زهٔ روان شم او د عرش د

تَرٰى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي ثُمَّ يَفْتَحُ اللهُ عَلَيَّ وَيُلْهِمُنِي مِنْ مَحَامِدِهِ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ لِأَحَدٍ قَبْلِي ثُمَّ يُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ سَلْ تُعْطَهْ اشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلِ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِ مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذٰلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ لَكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرٍ أَوْ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَبُصْرٰى

لاندے به راشم او خپل رب ته به په سجده پریوځم بیا به الله تعالی څما زړهٔ پرانزی. او هغه هغه تعریفونه به ماته اوښائی چه هغه نے څمانه مخکښ چا ته نهٔ دی خودلی زهٔ به د هغهٔ ښهٔ تعریف او حمد کوم، بیا به اوفرمائی اے محمد خپل سر اوچت کړه. غواړه چه څهٔ غواړے درکولے به شی. سفارش کوه قبلیږی به زهٔ به سر اوچت کړم اودابه وایم چه امت څما امت څما. حکم به اوشی اے محمد د خپل امت نه هغو خلقو لره چه د هغوی سره حساب وکتاب نشته دے داخل کړه په باب ایمن سره جنت ته او هغه په نورو خلقو کښ شریک دی په باقی دروازو د جنت کښ یعنی په هغے هم تلے شی خو دا دروازه د هغوی دپاره خاص کړے شوے ده قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښ چه د محمد روح دے. د جنت د دروازے په دواړو بازوګانو کښ دومره فاصله ده لکه مکه او هجر (هجر یو ښهر دے په بحرین کښ) یا لکه په مکه او بصری کښ (بصری یو ښهر دے د دمشق نه په درے منزلو باندے)[1]

[1] خکه چه د مټ غوښه بے ریشے وی. او ډیره زر اوښهٔ کیږی او د هغے ذائقه هم مزیداره وی. ترمذی د حضرت عائشے نه روایت کړے دے. چه د مټ غوښه هغه ته غوره نهٔ وه . بلکه هغهٔ ته به غوښه څو ورځے پس ملاویده نو هغه به مټ اخستو ددے دپاره چه زر پوخ شی. هغوی فرمائلی دی د الله د احسان ظاهرولو د پاره . او ددے حکم اوشو هغوی ته د خپلے درجے د ښودلو دپاره او زمونږ د فائدے دپاره. قاضی عیاض ویلی دی سردار هغه دے. چه هغه د ټولو خلقو نه په درجه کښ زیات وی. او چه دهغو په طرف خلق د سختئ په وخت پناه اخلی او رسول الله ﷺ خو سردار دے د بنیادمو په دنیا او آخرت دواړو کښ. خو هغه خاص کړو قیامت لره. خکه چه د هغه خائے سرداری ښکلی ده. او هلته به ټول خلق اولنی او وروستنی راجمع کیږی. او آدم علیه السلام او د هغهٔ اولاد به ټول د هغهٔ د جهنډے لاندے وی. لکه چه الله تعالی فرمائی په هغه ورځ به د چا سلطنت وی. د الله چه هغه یو دے او زبردست قهّار دے. د الله سلطنت په دنیا کښ هم دے . خو د قیامت په ورځ به نے خاص سلطنت وی خکه چه بل هیڅوک به په دغه ورځ د سلطنت حکومت، امیرئ او سرداری دعوے کلو والانهٔ وی (نووی). یعنی هغه میدان به داسے صفا او هموار وی. چه په لیدو کښ به نظر ټولو خلقو ته رسیدے شی به خلاف ددنیا دلته د زمکے د ګول والی په وجه نظر ټولو ته رسیدے نهٔ شی. بعضو ویلی دی چه مراد د خدائے نظر دے. خو د خدائے نګاه خو په هر شان ټولو ته رسیدے شی. خواه کهٔ هغه اوار میدان وی یا نهٔ وی. نووی ویلی دی. د غصے نه دا مراد دے. چه الله تعالی به بدله اخستونکے وی د نافرمانونه او د هغهٔ عذاب به په مخکښ موجود وی. او قسم قسم تکلیف به په خاوندانو د محشر باندی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ وُضِعَتْ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصْعَةٌ مِنْ ثَرِيدٍ وَلَحْمٍ فَتَنَاوَلَ الذِّرَاعَ وَكَانَتْ أَحَبَّ الشَّاةِ إِلَيْهِ فَنَهَسَ نَهْسَةً فَقَالَ أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ نَهَسَ أُخْرَى فَقَالَ أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَمَّا رَأَى أَصْحَابَهُ لَا يَسْأَلُونَهُ قَالَ أَلَا تَقُولُونَ كَيْفَهْ قَالُوا كَيْفَهْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي حَيَّانَ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ وَزَادَ فِي قِصَّةِ إِبْرَاهِيمَ فَقَالَ وَذَكَرَ قَوْلَهُ فِي

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. ما د رسول الله ﷺ په مخکښې یوه پیاله د ثرید کیښوده (ثرید یوه غله ده خه د ډوډۍ او ښوروا د ملاویدو نه جوړیږی او غوښه هغه د مټ غوښه واخسته. او هغه ډیره خوښه وه د هغوی په توله بزه کښې هغه یو خل په خله سره اوشوکوله او بیائے اوفرمائیل چه زهٔ د خلقو سردار به وم د قیامت په ورځ. بیائے دوباره اشوکوله او اونے فرمایل. زهٔ به د خلقو سردار ئم د قیامت په ورځ هر کله چه هغه اوکتل چه دهغهٔ یاران د هغهٔ نه څهٔ تپوس نهٔ کوی. نو پخپله ئے اوفرمایل. چه تاسو دا تپوس نهٔ کوئ چه څنګه به سردار ئے؟ هغوی اووے. څنګه یا رسول اللهﷺ! هغهٔ اوفرمایل. خلق به ټول اودریږی د اللهؒ په مخکښې اوبیان ئے کړو حدیث لره په هغه شان لکه چه پورته تیرشو دحضرت ابراهیمؑ په قصه کښې دومره زیات دے چه هغوی بیان کړے هغه د دروغو خبرو لره چه په دنیا کښې ئے هغهٔ ویلے وے ستورو ته ئے ویلی وو

وی. او دا خبرے نهٔ وړاندے شوی دی. او نهٔ به آئنده کیږی نو د الله د غضب نه دغه مراد دے. په دے واسطه چه محال دے تغیر د هغوی په حق کښې په غضب سره یا په رضا سره. السراج الوهاج کښې دی. چه نوویؒ په دے مقام باندے د یو صفت تاویل کړے دے. او پورته دا خبره تیره شوه. چه د سلفو مذهب په صفاتو کښې دا دے. چه کوم صفت په کتاب او سنت کښې راغلی دی. هغے لره روایت کول په هغے باندی یقین کول. په ظاهر باندے روان ول بغیر د تاویل او تکییف او تعطیل او د تشبیهه نه. او کوم امر چه نووی بیان کړے دے. دا غایت دے د غضب نه د هغے معنٰی لغوی ده. دد ے ځائے نه د پیغمبر ﷺ او د نورو پیغمبرانوؑ درجه پیژندل پکار دی. هغه به تول نَفْسِي وَنَفْسِي وائی او د خپل روح یعنی ځان په فکر کښې به سرګردانه وی. زمونږ پیغمبر ﷺ به د عامو د نیکئ دپاره لټونکے او د امت د خلاصولو دپاره لټونکے وی. سبحان الله په دے باندے دا ایت صادق دے. وَمَا أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ. د هغهٔ ذات رحمت او کرم دے. د ټولے دنیا دپاره په دنیا او آخرت کښې. دد ے نه زیات کوم یو شرف دے دد ے نه زیاته کومه یوه خبره ده دغه فرق دے د مرتبے په هغه سرِی کښې چه هغه په دنیا کښې خپل خیر غواړی او په هغه سړی کښې چه هغه د عامو خلقو خیر غواړی. اول لره د دویم سره څهٔ نسبت نشته دے کوم سړے چه د عامو مسلمانانو د فائدے د رسولو کار لکه مدرسه جوړه کړی. یا سرائے جوړه کړی د مسلمانانو د دین یا د حکومت مدد کوی. داسے کار کوی چه په هغے سره د تباهئ او ذلت نه بچ کیږی. ددین د دکتاب یا ددین تعلیم خوروی. تجارت یا صنعت یا د حرب الات او اسباب شائع کوی. د هغے درجه دد ے مسلمان نه چیرته غوره ده. چه هغه صرف د خپل نفس د بچ کولو دپاره په عبادت کښې مصروف پاتے دے. هجر د مکے د ښهر نه د یوے میاشتے په لاز باندے دے. نو د جنت پهاټک دومره قدر لوئے دے. د چوکهاټ یو ګټ د بل ګټ نه په دومره فاصله لرے وی. الله اکبر جل شانه دد ے نه قیاس کول پکار دی. چه جنت څومره لوئے دے.

الْكَوْكَبِ هٰذَا رَبِّي و قوله لِاٰلِهَتِهِمْ بَلْ فَعَلَهٗ كَبِيرُهُمْ هٰذَا و قوله إِنِّي سَقِيمٌ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ إِلٰى عِضَادَتَيِ الْبَابِ لَكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرٍ أَوْ هَجَرٍ وَ مَكَّةَ قَالَ لَا أَدْرِي أَيَّ ذٰلِكَ قَالَ

چه دا خما رب دے. (اګر چه د ابراهیم دا اعتقاد خو نو ځکه چه د پیغمبرانو نه خو شرك نشی کیدے خو دا د کافرانو د الزام ورکولو دپاره ئے اول ستورو ته خدائے اووے. بیا سپوږمۍ بیا نمر ته هرکله چه هغه ډوب شول نو اوئے ویل دا خدایان کیدے نهٔ شی خدائے هغه دے چه هغه دا تول پیدا کړے دی) بتان هغهٔ مات کړی وو او اوئے ویل چه دا غټ پت مات کړی دی. بیمار نهٔ وو او ویلی ئے وو چه زهٔ بیمار یم. قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه دمحمد روح دے. دجنت په دوارو پټو کښې یعنی د دروازو په چوکاټ دنته دومره فاصله ده څومره چه د مکے او هجر په مینځ کښې ده یائے دااووے څومره چه د هجر او د مکے په مینځ کښې ده. ماته یاد نهٔ دهٔ دی چه څنګه ئے اووے (یعنی هجر لره ئے مخکښې اووے یائے مکے لره)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبُو مَالِكٍ عَنْ رِبْعِيٍّ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى النَّاسَ فَيَقُومُ الْمُؤْمِنُونَ حَتّٰى تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ فَيَأْتُونَ اٰدَمَ فَيَقُولُونَ يَا أَبَانَا اسْتَفْتِحْ لَنَا الْجَنَّةَ فَيَقُولُ وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُمْ آدَمَ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ اذْهَبُوا إِلٰى ابْنِي إِبْرَاهِيمَ خَلِيلِ اللّٰهِ قَالَ فَيَقُولُ إِبْرَاهِيمُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيلًا مِنْ وَرَاءَ وَرَاءَ اعْمِدُوا إِلٰى مُوسٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَلَّمَهُ اللّٰهُ تَكْلِيمًا فَيَأْتُونَ

د ابوهریرهؓ او حذیفهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. الله تعالی به د قیامت په ورځ خلقو لره جمع کړی. مسلمانان به ولاړ وی تردے پورے چه جنت به د هغوی خواله راوستے شی. بیا به هغه ادم ته راغونډ شی. او اووائی به بابا! زمونږ جنت بیرته کړه زمونږ دپاره. هغه به اووائی د جنت نه تاسو راویستلی یئ چا ، خما هغه ګناه تاسو راویستلی یئ. نن خمانه دا کار نهٔ شی کیدے. البته تاسو خما خوئ ابراهیمؑ له لاړشئ. ابراهیمؑ به اووائی خما نه دا کار نهٔ شی کیدے. زهٔ د الله دوست وم لیکن ورسته ورسته (یعنی خما د الله جل جلاله سره دومره نژدے والے نهٔ دے راغلے چه څهٔ پرده نهٔ وه. بلکه دوه حجابرنه وو نهٔ ما د هغهٔ سره بلاواسطه خبرے کړی دی. او نهٔ مے هغه لیدلے دے) تاسو لاړ شئ د موسیٰؑ خواله چه د هغهٔ سره الله تعالی خبرے کړی دی. هغوی به د موسیٰؑ خواله

مُوسَى صلى الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى كَلِمَةِ اللهِ وَرُوحِهِ فَيَقُولُ عِيسَى صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَيَقُومُ فَيُؤْذَنُ لَهُ وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَتَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ قَالَ قُلْتُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ قَالَ أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ وَشَدِّ الرِّجَالِ تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا قَالَ وَفِي حَافَتَيِ الصِّرَاطِ كَلَالِيبُ مُعَلَّقَةٌ مَأْمُورَةٌ بِأَخْذِ مَنْ أُمِرَتْ بِهِ فَمَخْدُوشٌ نَاجٍ وَمَكْدُوسٌ فِي النَّارِ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ إِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعُونَ خَرِيفًا

راشي. هغه به اووائي زۀ دد ے لائق نۀ وم تاسو په عیسیٰ پسے لاړ شئ. چه هغه د الله کلمه او د هغهٔ روح د ے. عیسیٰ به اووائي دا خما کار نۀ د ے. بیا به هغه ټول د محمد ﷺ خواله راشي. هغه به ولاړ وي او هغهٔ ته به اجازت ملاو شي.(د جنت د کهولاوولو) او امانت او صله رحمي به اولیږلے شي. هغه به د پُل نه ښي طرفته او کس طرفته اودرولے شي. ستا سو نه به ورمبے بنده د پُل صراط نه په د ے شان پورے اوځي لکه بجلي. هغوي اووے زمونږ پلار مور د تانه قربان شي. د بجلئ پشان کوم څیز تیریږي. هغه اوفرمایل تاسو بجلي نۀ ده لیدلي. هغه څنګه تیریږي او بیا راځي د سترګو په رَپ کښ. بیا لکه څنګه چه هوا ځي بیا لکه مرغئ چه الوزي بیا لکه سړ ے چه منډه وهي د خپل خپل اعمال په موافق او ستاسو پیغمبر به په پُل باند ے ولاړ وي. هغه به وائي یا الله بچ کړ ے یا الله بچ کړ ے. تر د ے پور ے چه د اعمالو زور به کم شي (یعنې بنۀ عملونو والا به پور ے وتلے شي او هغه خلق به پاتے شي چه د هغوي نیک عملونه کم وي. هغوي ته به پور ے وتل ګران وي) او یو سړ ے به راشي هغه به تلے نۀ شي مګر راښکو د ے شے. او د هغه پل دواړه طرفته به کُنډ ے وي. زوړند ے شو ے هغې ته به حکم اوشي هغوي به رانیسي. بیا به بعضے بندیګان په سولیدو سولیدو خلاصے موندلے شي. او بعضے به پرمخے په جهنم کښ غورځولے کیږي. قسم د ے په هغه ذات چه په لاس کښ چه د ابوهریره روح د ے. چه د جهنم خوروالے د اویاؤ کالو لاز ده.[1]

[1] خکه چه دا دواړه لوئے کارونه دي چه د هغے خیال مومن لره همیشه ساتل پکار دي امانت یعنې خلوص او ربنتیانی صداقت او راست بازي خبرے اترے او په هر کاروبار کښ او رشته داانو سره چه کوم محتاج وي بنۀ کوله د هغو خبر اخستل. او کۀ چرے یو څیز په هغے کښ او غور خیږي نو د اویاؤ کالو پور ے ویخ ته نۀ رسیږي. معاذ الله

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ النَّاسِ يَشْفَعُ فِي الْجَنَّةِ وَأَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا .

د انس بن مالک روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ به د تولو نه وړاندے په جنت کښې شفاعت کوم. او د تولو پیغمبرانو نه به زیات څما تابع خلق وی د قیامت په ورځ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يَقْرَعُ بَابَ الْجَنَّةِ

د انس بن مالک نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د تولو پیغمبرانو نه زیات به څما تابعدار وی د قیامت په ورځ. اوزۀ به د تولو نه مخکښې د جنت دروازه ټکوم (یعنی کهولاووم به ئے)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ شَفِيعٍ فِي الْجَنَّةِ لَمْ يُصَدَّقْ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مَا صُدِّقْتُ وَإِنَّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيًّا مَا يُصَدِّقُهُ مِنْ أُمَّتِهِ إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ

د انس بن مالک نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ به د تولو نه مخکښې په جنت کښې شفاعت کوم. بل یو پیغمبر دومره خلقو نۀ دے منلے لکه څومره خلقو چه زۀ منلے یم او بعضے پیغمبران خو داسے دی چه د هغوی منلو والا بس یو سړے وی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آتِي بَابَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَسْتَفْتِحُ فَيَقُولُ الْخَازِنُ مَنْ أَنْتَ فَأَقُولُ مُحَمَّدٌ فَيَقُولُ بِكَ أُمِرْتُ لَا أَفْتَحُ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ

د انس بن مالک نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. زۀ به د قیامت په ورځ د جنت دروازے له راشم او د جنت دروازه به کهولاووم. څوکیدار به تپوس اوکړی. تۀ څوک ئے؟ زۀ به اووایم محمد یم. هغه به اووائی ستا په واسطه ماته حکم شوے وو. چه ستا نه مخکښې به د چا دپاره دروازه نۀ بیرته کوم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ يَدْعُوهَا فَأُرِيدُ أَنْ أَخْتَبِئَ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د هر یو نبی یوه دُعا وی (چه هغے لره خداوند تعالی ضرور قبلوی او باقی دُعاګانے قبلیږی هم او نۀ قبلیږی هم) نو زۀ غواړم چه خپلے دُعا لره پټه اوساتم د قیامت د ورځے پورے د خپل امت د شفاعت دپاره [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هر نبی یوه

---

[1] یعنی په دنیا کښې به هغه دُعا لره نۀ غواړم بلکه د آخرت دپاره به ئے پټه اوساتم او د خپل امت د خلاصی دپاره به ئے صرف کړم سبحان الله زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم د خپل امت سره څومره محبت او الفت چه د پلار د خوی سره داسے مینه نۀ وی. او دغه وجه ده چه هغه به د خپل امت په هغه وخت مدد کوی. هر کله چه پلار د خوی نه خاوند د ښځے نه او خپل د خپل نه بیزاره شی. او تولو ته به د خپل خپل خان د بچ کولو فکر وی.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ وَأَرَدْتُ إِنْ شَاءَ اللهُ أَنْ أَخْتَبِئَ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ

دُعا ضرور قبلیږي نو خما اراده ده کۀ خدائے غواړي نو خپله دُعا به پټه اوساتم او د قیامت په ورځ به د خپل امت شفاعت کوم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لِكَعْبِ الْأَحْبَارِ إِنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ قَالَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ يَدْعُوهَا فَأَنَا أُرِيدُ إِنْ شَاءَ اللهُ أَنْ أَخْتَبِئَ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ كَعْبٌ لِأَبِي هُرَيْرَةَ أَنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَعَمْ

ابوهریره ؓ کعب احبار ته اووے رسول الله ﷺ فرمائیلي دي د هر نبي دپاره یوه دُعا وي چه هغې لره هغه غواړي. خما اراده ده. په شرط د دے کۀ خدائے غواړي. زۀ به هغې دُعا لره پټه اوساتم د خپل امت د شفاعت دپاره د قیامت په ورځ. کعب ابوهریره ؓ ته اووے تا داسے اوریدلي دي د رسول الله ﷺ نه. ابوهریره ؓ اووے آو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلي دي د هر نبي یو دُعا ده چه هغه ضرور قبلیږي نو هر نبي تادي کړیده هغه دُعا نے غوښتلې ده (په دنیا کښې) او زۀ خپله دعا پټه ساتم د قیامت د ورځے په واسطه د خپل امت د شفاعت دپاره. او کۀ خدائے غواړي نو خما شفاعت به د هر یو امتي دپاره وي په شرط د دے چه هغه په شرک باندے مړ شوے نۀ وي[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ يَدْعُو بِهَا فَيُسْتَجَابُ لَهُ فَيُؤْتَاهَا وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلي دي. د هر پیغمبر یوه دُعا وي قبلیدونکې چه هغې له هغه غواړي او قبلیږي. او ورکولے شي. او ما خپله دُعا پټه ایخے ده د خپل امت د شفاعت

[1] یعنې د خاتمے په وخت هغه مشرک مړ نۀ شي. اگر کۀ هر څومره چه گنهگار وي. نووي رحمه الله وائي دد ے حدیث نه د اهل حقو مذهب ثابتیږي چه کوم بنده مړ شي او د شرک نه پاک وي هغه به همیشه دپاره په جهنم کښې نۀ پاتے کیږي اگر کۀ کبیره گناهونه ئے کړي وي. او دد ے دلائل پوره ته بیان شول السراج الوهاج کښې دي چه شرک عام دے. خواه بل څوک خدائے ثابت کړي یا د هغۀ په صفتونو کښې یو صفت د هغۀ د مخلوق دپاره خواه هغه څۀ چه وي ثابت کړي. او شرک یو جلّي دے یو خفي. او د هغے نه بچ کیدل ډیر گران دي. په دے واسطه الله تعالی فرمایلي دي. اکثر خلقو په الله باندے ایمان راوړے وي مگر هغه مشرکان وي. او دا آیت صادق دے په هغه مقلدینو باندے چه هغوي د خپلو عالمانو او مجتهدینو نه خدایان جوړ کړي دي. او په هغه خلقو چه هغه په قبرونو باندے هغه کوي چه هغه خاص دي د اله سره او حلالوي خناورو لره د ما سوا د الله په نوم هغه تول مشرکان دي. او باوجود دد ے امید لري د نبي د شفاعت بلکه د خپلو بزرگانو د شفاعت. حالانکه شفاعت د هغه چا دپاره دے چه هغه د الله سره د څۀ قسم شرک نۀ وي کړے نۀ پټ نۀ ښکاره او څوک چه شرک کوي د هغۀ شفاعت به نۀ کیږي بلکه هغه به همیشه په جهنم کښې وي. خواه څوک وي کوم خائے وي. انتهی.

شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ

دپاره د قیامت په ورځ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ دَعَا بِهَا فِي أُمَّتِهِ فَاسْتُجِيبَ لَهُ وَإِنِّي أُرِيدُ إِنْ شَاءَ اللهُ أَنْ أُؤَخِّرَ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی د هر پیغمبر یو دُعا ده چه هغوی غوښتلے د خپل امت دپاره او ما خپله دُعا پټه ایخوده ده د خپل امت د شفاعت دپاره د قیامت په ورځ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ دَعَاهَا لِأُمَّتِهِ وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د انس بن مالک نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هر پیغمبر یو دُعا ده چه هغوی غوښتلی ده د خپل امت دپاره. او ما خپله دُعا پټه ایخودے ده. د خپل امت د شفاعت دپاره د قیامت په ورځ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ قَدْ دَعَا بِهَا فِي أُمَّتِهِ وَخَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هر یو پیغمبر یو دُعا ده چه هغے لره هغوی غوښتلی ده د خپل امت په حق کښ. او ما خپلے دُعا لره پټه ایخودے ده د خپل امت د شفاعت دپاره د قیامت په ورځ.

بَابُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمَّتِهِ وَبُكَائِهِ شَفَقَةً عَلَيْهِمْ

باب: د رسول الله ﷺ دُعا کول د خپل امت دپاره او ژړل د هغوی په حال باندے د شفقت نه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَا قَوْلَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي إِبْرَاهِيمَ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي الْآيَةَ وَقَالَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ اللَّهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي وَبَكَى فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيكَ فَأَتَاهُ

د عبد الله بن عمرو بن العاص نه روایت دے. رسول الله ﷺ د ایت اولوستو چه په دے کښ د حضرت ابراهیم قول دے. اے ربه! هغوی خطا کړل (یعنی بتانو) ډیر خلقو لره هغه څوک چه ځما په لار باندے روانشو نو هغه ځما دے. او چا چه ځما وینا او نۀ منله د هغۀ نه بخونکے او مهربان ئے. او دا ایت چه په دے کښ د حضرت عیسیٰ قول دے کۀ چرے تۀ هغوی لره په عذاب کړے نو هغه ستا بندیګان دی. او کۀ چرے تۀ هغوی لره او بخے. نو تۀ مالک ئے حکمت والا. بیا ئے خپل دواړه لاسونه اوچت کړل او دائے اووے. اے پروردګاره ځما، امت ځما امت ځما او په ژړا شو. الله تعالی اوفرمایل اے جبرائیله! تۀ د محمد ﷺ خواله لاړ شه. او رب ستا ښۀ پوه دے لیکن تۀ لاړ شه د هغه

جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَالَ وَهُوَ أَعْلَمُ فَقَالَ اللهُ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ فَقُلْ إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوءُكَ

نه تپوس اوکړه. چه هغه ولې ژاړي؟ جبرائيلؑ د هغۀ خواله راغے او تپوس ئے اوکړو تۀ ولې ژاړے؟ هغۀ ورته تول حال بيان کړو جبرائيلؑ الله تعالى ته لاړو عرض ئے اوکړو. حالانکه هغه ښۀ پوهه وو. الله تعالى اوفرمائيل اے جبرائيله! د محمدؐ خواله لاړ شه! او ورته اووايه چه مونږ به تالره خوشحاله کړو ستا په امت کښې او تا به نۀ خفه کوو[1].

بَاب بَيَانِ أَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى الْكُفْرِ فَهُوَ فِي النَّارِ وَلَا تَنَالُهُ شَفَاعَةٌ وَلَا تَنفَعُهُ قَرَابَةُ الْمُقَرَّبِينَ

باب: کوم سړے چه د کفر په حالت کښې مړ شي. هغه به جهنم ته ځي او د هغۀ شفاعت به نۀ کيږي. او د بزرګانو خپلوی به د هغۀ څۀ پکار نۀ راځي

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيْنَ أَبِي قَالَ فِي النَّارِ فَلَمَّا قَفَّى الرَّجُلُ دَعَاهُ فَقَالَ إِنَّ أَبِي وَأَبَاكَ فِي النَّارِ

د انسؓ نه روايت دے چه يو سړي تپوس اوکړو. يا رسول اللهﷺ څما پلار کوم ځائے دے. هغۀ اوفرمايل په دوزخ کښې. هر کله چه د هغه شا شوه او روان شو نو حضرتﷺ هغه رااوغوښته او ورته ئے اوفرمايل. چه څما پلار او ستا پلار دواړه په جهنم کښې دي[2].

---

[1] نوويؒ ويلي دي په دے حديث کښې څو فائدے دي. يو خو دا چه د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم د خپل امت سره ډير زيات محبت او شفقت او مهرباني وه. دويمه دا چه په دُعا کښې لاس اوچتول مستحب دي. دريم دا چه بشارتِ عظيم دے. ددے امت دپاره او هغه نور زيات شو د خداوند کريم د وعدے نه. کومه چه هغه اوکړه چه مونږ به تاله راضي کړو ستا په امت کښې او د نۀ خفه کولو. او دا حديث لوئے اميد دے د امت د خلقو دپاره. څلورم بيان دے د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم د کمال بزرګئ او د اوچتے درجے او د الله تعالى چه کوم عنايت په هغۀ باندے وو د هغے. او د جبريل په ليږلو کښې حکمت دا وو چه د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم بزرګي ښکاره شي. او معلومه شي چه د هغۀ درجه ډيره اوچته ده. او خدائے تعالى د هغۀ رضامندي غواړي. او دا حديث مطابق دے ددے ايت وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى يعنى الله تعالى به تالره درکړي بيا به ته راضي شے. او دا چه ئے کوم ويلي دي چه مونږ به تالره نۀ ناراضه کوو. ددے نه لوئے اميد وتلے شي. ځکه چه رضامندي هغه وخت هم کيږي چه الله تعالى به بعضو لره معاف کړي او بعضو لره به جهنم ته بوځي. نو اوئے فرمايل. چه تالره غم نۀ درکوو. بلکه ستا د امت ټولو خلقو لره به د جهنم د اُور نه او عذاب نه خلاصے ورکوو.

[2] ځکه چه هغه په کفر باندے مړ وو. او څوک چه په کفر باندے مړ شي هغه به جهنم ته ځي. هغۀ لره به دچا رشته خپلولي پکار نۀ راځي. ددے حديث نه دا هم معلومه شوه چه د عربو خلق کوم چه د نبوت نه وړاندے مړه دي. او د بتانو پرستش ئے کولو. هغه جهنميان دي. او ددے نه دڅوک دا نۀ ګڼړي چه د دعوت نه مخکښې دا مواخذه ده. ولې چه هغوی ته د نورو پيغمبرانو دعوت رسيدلے

بَابُ فِي قَوْلِ اللهِ تَعَالَى وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا فَاجْتَمَعُوا فَعَمَّ وَخَصَّ فَقَالَ يَا بَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي هَاشِمٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا فَاطِمَةُ أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الصَّفَا فَقَالَ يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ يَا صَفِيَّةُ بِنْتَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَا

باب: د الله ؒ دا فرمان چه خپل نزدے رشته دارانو لره ویروه

د ابوهریرهؓ نه روایت دے هر کله چه دا ایت نازل شو ' اویروه خپل خاندان والو لره' نو رسول الله د قریشو خلقو لره رااوغوښتل. هغه تول راجمع شول. خاص او عامو تولو لره اویرول او بیانئے اوفرمایل. اے د کعب بن لوی ځامنو آزاد کړئ خپل ځان د جهنم نه اے د مرة بن کعب ځامنو! آزاد کړئ خپل ځان د جهنم نه. اے د عبد شمس ځامنو! خلاص کړئ خپل ځان د جهنم نه اے د هاشم ځامنو! خلاص کړئ ځان خپل د جهنم نه اے د عبد المطلب ځامنو! خلاص کړئ ځان خپل د جهنم نه. اے فاطمے خلاص کړه ځان خپل د جهنم نه. ځکه چه زهٔ د خدائے په مخکښ څهٔ اختیار نهٔ لرم (یعنی کهٔ هغه عذاب ورکول اوغواړی نو بچ کولے نهٔ شم) البته تاسو چه کومه خپلولی لرئ. زهٔ هغے لره جوړوم یعنی خیال ئے ساتم (یعنی په دنیا کښں ستاسو سره احسان کول غواړم)

د ام المومنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے. هر کله چه دا ایت نازل شو ' اویره وه ته خپل خاندان والو لره ' نو رسول اللهﷺ د صفا په غر باندے اودریدو . او اوئے فرمایل اے فاطمهؓ د محمدؐ لور. اے صفیه د عبد المطلب لور. او اے د عبد المطلب ځامنو! زهٔ د

وو لکه حضرت ابراهیمؑ او دا چه کوم هغه، هغه سرے اوغوښتو او ورته ئے اوے. چه ستا پلار هم په جهنم کښں دے. ددے نه دا عرض وو. چه ددهٔ غم کم شی. او هغه ته دا معلومه شی. چه د خدائے په مخکښں تول برابر دی. کومه قاعده چه هغه نیولے ده. د هغے خلاف نهٔ شی کیدے. د کافر ځائے د اوسیدو جهنم دے. خواه کهٔ هغه د نبی پلار وی یا خوی: جلال الدین سیوطیؒ په څو حدیثونو سره دا امر ثابت کړے دے. چه الله تعالی د پیغمبرﷺ دعا لره د هغهٔ د والدینو په حق کښں قبوله کړه . او هغه دوباره ژوندے کړے شو او اسلام ئے راوړو خو اکثرو علماؤ او محدثینو ددے نه انکار کړے دے. او دغے حدیثونو ته ئے موضوع خودلی دی. او الله ښهٔ پوهه دے په حقیقت د حال باندے.

بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَا أُمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا سَلُونِي مِنْ مَالِي مَا شِئْتُمْ

خدائے په مخکښې تاسو لره بچ کولے نۀ شم البته ځما د مال نه چه ستاسو کوم زړۀ غواړی اوغواړئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أُنْزِلَ عَلَيْهِ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ اللَّهِ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا عَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَا أُغْنِي عَنْكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللَّهِ لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ رَسُولِ اللَّهِ سَلِينِي بِمَا شِئْتِ لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه په رسول اللهﷺ باندے چه هر کله دا ایت نازل شو "اویره وه تۀ خپلو نژدے خپلوانو لره" نو هغۀ اوفرمایل چه اے د قریشو خلقو! تاسو خپل ځانونو لره د اسه ه واخلئ (د نیک اعمالو په بدله کښې) زۀ د الله په مخکښې ستاسو په څۀ کار نۀ شم راتلے. اے د عبد المطلب ځامنو! زۀ ستاسو په څۀ کار نۀ شم راتلے د الله په مخکښې. اے عباسؓ خویه د عبد المطلب زۀ ستا په څۀ کار نۀ شم راتلے د الله تعالی په مخکښې. اے صفیه ترور د رسول اللهﷺ زۀ ستا په څۀ کار نۀ شم راتلے د الله جل شانه په مخکښې. اے فاطمهؓ لور د محمدﷺ تۀ ځما په مال کښې چه څۀ غواړے اوغواړه. بیا د الله په مخکښې زۀ ستا په څۀ کار نۀ شم راتلے.

عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ الْمُخَارِقِ وَزُهَيْرِ بْنِ عَمْرٍو قَالَا لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ قَالَ انْطَلَقَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَضْمَةٍ مِنْ جَبَلٍ فَعَلَا أَعْلَاهَا حَجَرًا ثُمَّ نَادَى يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافَاهْ إِنِّي نَذِيرٌ إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ رَأَى الْعَدُوَّ فَانْطَلَقَ يَرْبَأُ أَهْلَهُ فَخَشِيَ أَنْ يَسْبِقُوهُ فَجَعَلَ يَهْتِفُ يَا صَبَاحَاهْ

د قبیصه بن مخارق او زهیر بن عمروؓ نه روایت دے دواړو ویلی دی. هر کله چه دا ایت نازل شو "اویره وه تۀ خپلو نژدے خپلوانو لره" نو رسول اللهﷺ د غر یوے ګټے له لاړو او د ټولو نه په لوړه ګټه اودریدو بیائے آواز اوکړو اے د عبد مناف ځامنو زۀ یره ولو والایم ځما مثال او ستاسو مثال داسے دے چه یو سړی خپل دشمن لره اولیدو. بیا هغه په منډه لاړو د خپل خاندان د بچ کولو دپاره او اویریدو چرته دشمن د هغۀ نه مخکښې اونۀ رسی. نو په چغو سر شو یا صَبَاحَاه[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ وَرَهْطَكَ مِنْهُمُ

د ابن عباسؓ نه روایت دے هر کله چه دا ایت نازل شو "اویره وه تۀ خپلو نژدے رشته دارانو لره. او د خپل قوم مخلصینو (رښتونی) خلقو لره" نو

[1]: یا صباحاه: یوه کلمه ده چه دے لره د عربو خلق په څۀ لویه واقعه باندے وائی او اکثر په عربو کښې لوټ مار د سحر په وخت کښې کیدلے شی. نو دد دے کلمے د ویلو نه غرض داوی چه خلق خبر دار شی. او د خپل ځان بچاؤ اوکړی.

الْمُخْلَصِينَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى صَعِدَ الصَّفَا فَهَتَفَ يَا صَبَاحَاهْ فَقَالُوا مَنْ هَذَا الَّذِي يَهْتِفُ قَالُوا مُحَمَّدٌ فَاجْتَمَعُوا إِلَيْهِ فَقَالَ يَا بَنِي فُلَانٍ يَا بَنِي فُلَانٍ يَا بَنِي فُلَانٍ يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَاجْتَمَعُوا إِلَيْهِ فَقَالَ أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ بِسَفْحِ هَذَا الْجَبَلِ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوا مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ كَذِبًا قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ قَالَ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ أَمَا جَمَعْتَنَا إِلَّا لِهَذَا ثُمَّ قَامَ فَنَزَلَتْ هَذِهِ السُّورَةُ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَقَدْ تَبَّ كَذَا قَرَأَ الْأَعْمَشُ إِلَى آخِرِ السُّورَةِ

رااووتو رسول الله ﷺ تر دے پورے چه هغه صفا غر ته اوختو او چغه ئے کړه یا صباحاه خلقو اووے. دا څوک چغے وهي. هغوی اووے محمد دے بیا ټول خلق هغهٔ ته راجمع شو. هغهٔ اوفرمایل ! اے د فلانی خامنو ! اے د فلانی خامنو ! اے د فلانی خامنو ! اے د عبد مناف خامنو ! اے د عبد المطلب خامنو ! هغه ټول راجمع شول نو هغهٔ ورته اوفرمائیل تاسو څهٔ پوهیږئ که چرے زهٔ تاسو ته دا اووایم چه دد دے غر لاندے سوارهٔ دی. نو تاسو به خما خبره اومنئ؟ هغوی اووے مونږ په تا کښ څهٔ خبره دروغ نهٔ ده موندلے هغهٔ اوفرمائیل. نو بیا زهٔ تاسو یره وم د سخت عذاب نه ابو لهب اووے خرابی دوی ستا تا مونږ ټول دد دے دپاره راجمع کړلو. بیا هغه پاسیدو (د هغه مجلس نه) دغه وخت دا سورة نازل شو تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَقَدْ تَبَّ. یعنی هلاک د وی دواړه لاس د ابولهب او هلاک شولو. اعمش دے سورة لره داسے اولوستو د آخره پورے. (یعنی د قَدْ حرف ئے پکښ زیات کړو. او مشهور قراءت تَبَّ دے بغیر د قَدْ نه)[1].

بَاب شَفَاعَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي طَالِبٍ وَالتَّخْفِيفِ عَنْهُ بِسَبَبِهِ

باب : د رسول الله ﷺ د سفارش په وجه سره د ابوطالب په عذاب کښ د کمیدو بیان

عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ نَفَعْتَ أَبَا طَالِبٍ بِشَيْءٍ فَإِنَّهُ كَانَ يَحُوطُكَ وَيَغْضَبُ لَكَ قَالَ نَعَمْ هُوَ فِي ضَحْضَاحٍ مِنْ نَارٍ وَلَوْلَا أَنَا لَكَانَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ

حضرت عباس رضی اووے یا رسول الله ﷺ ! ولے تا ابوطالب ته هم څهٔ فائده رسولے ده. هغهٔ به ستا حفاظت کولو او ستا په واسطه به غصه کیدو (یعنی چا چه به تهٔ تنګولے هغه ته به غصه کیدو) رسول الله ﷺ اوفرمائیل آو. هغه د جهنم دپاسه په درجه کښ دے. که چرے زهٔ نهٔ وے (یعنی ما د هغهٔ دپاره دُعا نهٔ وے کړے) نو هغه به د جهنم په

[1] نووی ویلی دی اوس په قرآن کښ صرف دومره قدرے دے. وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ یعنی اویره وه تهٔ خپلو نږدے رشته دارانو لره او دا عبارت نهٔ دے. وَرَهْطَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ. شاید دد دے تلاوت منسوخ شوے وی

لاندې درجه کښې وو. (چه هلته عذاب ډیر سخت دے)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ سَمِعْتُ الْعَبَّاسَ يَقُولُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا طَالِبٍ كَانَ يَحُوطُكَ وَيَنْصُرُكَ فَهَلْ نَفَعَهُ ذَلِكَ قَالَ نَعَمْ وَجَدْتُهُ فِي غَمَرَاتٍ مِنَ النَّارِ فَأَخْرَجْتُهُ إِلَى ضَحْضَاحٍ

د عبد الله بن حارث نه روایت دے ما اوریدلی دی د عباس نه هغه ویلی وو ما اووے یا رسول الله ﷺ! ابوطالب به ستا بچاؤ کولو او ستا مدد به ئے کولو. او ستا دپاره به ئے په خلقو باندے غصه کوله نو هغه ته څۀ فائده اوشوه ددے خبرو نه؟ هغه اوفرمایل آو. ما هغه په سخت انګار کښې اولیدو نو ما رااوویستو او رامے وِستو هغۀ لره کم اُور ته

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذُكِرَ عِنْدَهُ عَمُّهُ أَبُو طَالِبٍ فَقَالَ لَعَلَّهُ تَنْفَعُهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُجْعَلُ فِي ضَحْضَاحٍ مِنْ نَارٍ يَبْلُغُ كَعْبَيْهِ يَغْلِي مِنْهُ دِمَاغُهُ

د ابوسعید خدری نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ ته د هغۀ د ترۀ ابوطالب ذکر اوشو. هغۀ اوفرمائیل کیدے شی چه هغۀ ته فائده اوشی ځما د شفاعت نه د قیامت په ورځ. او هغه به په لږ اُور کښې اودرولے شی چه هغه به د هغۀ ګیټو پورے وی. لیکن مازغۀ به د هغۀ خُټکیږی. د هغے نه (معاذ الله د جهنم اُور به څومره سخت وی)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَنْتَعِلُ بِنَعْلَيْنِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي دِمَاغُهُ مِنْ حَرَارَةِ نَعْلَيْهِ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د تولو نه د کمے درجے عذاب به هغه چا ته وی چه هغه ته به د اور پیزار په خپو کړے شی. بیا به د هغۀ دماغ د ګرمئ د وجے نه خُټکیږی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَهْوَنُ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا أَبُو طَالِبٍ وَهُوَ مُنْتَعِلٌ بِنَعْلَيْنِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د تولو نه کم عذاب به د جهنم ابوطالب ته وی. هغه به دوه پیزار په خپو کړی وی. داسے چه په هغے سره به د هغۀ دماغ خټکیږی.

عَنِ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَخْطُبُ وَهُوَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَرَجُلٌ تُوضَعُ فِي أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ

د نعمان بن بشیر نه روایت دے چه هغه خطبه لوستله هغوی اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. هغۀ فرمائیلی دی. د تولو نه د کمے درجے عذاب به د قیامت په ورځ هغه ته وی. چه د هغۀ به د خپو د تلوپه مینځ کښې دو سکروټے ایخودے کیږی. د هغے په وجه به ئے مازغۀ خټکیږی.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ

د نعمان بن بشیر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د تولو

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ مَا يَرَى أَنَّ أَحَدًا أَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا وَإِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا

نه سپک عذاب به هغه چا ته وی چه هغه ته به دوه تسمے او پیزار د انگار اغوستی شوی وی د هغهٔ دماغ به داسے ختکیږی لکه څنګه چه کټوی په ختکیدو ختکیدو بخیږی. هغه به داسے ګڼړی چه دد ےنه زیات عذاب چاته نشته حالانکه هغه به د ټولو نه کم عذاب وی.

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى الْكُفْرِ لَا يَنْفَعُهُ عَمَلٌ

باب : د کفر په حالت باندے د مړ شوے بنده به د هغهٔ عمل هیڅ پکار نهٔ راځی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ابْنُ جُدْعَانَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يَصِلُ الرَّحِمَ وَيُطْعِمُ الْمِسْكِينَ فَهَلْ ذَاكَ نَافِعُهُ قَالَ لَا يَنْفَعُهُ إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ

اُمّ المؤمنین حضرت عائشے اووے یا رسول الله ! د جدعان خوئ به د جاهلیت په زمانه کښ صله رحمی کوله (یعنی د خپلوانو سره به ئے ښهٔ سلوک کولو) او په مسکینانو به ئے غله خوروله دا کار به هغهٔ ته فائده ورکوی (د قیامت په ورځ) حضرت ﷺ اوفرمائیل . فائده به هیڅ نهٔ ورکوی (د قیامت په ورځ) هغه چرته دا نهٔ وو ویلی چه اے پروردګاره ځما ګناهونه اوبخې د قیامت په ورځ [1].

بَابُ مُوَالَاةِ الْمُؤْمِنِينَ وَمُقَاطَعَةِ غَيْرِهِمْ وَالْبَرَاءَةِ مِنْهُمْ

باب : د مؤمن سره د دوستئ ساتلو او د غیر مؤمن سره د دوستئ د قطع کولو او د هغوی نه د جدا اوسیدو بیان

---

[1] یعنی د هغهٔ د قیامت یقین نهٔ وو او کوم بنده چه په قیامت باندے ایمان نهٔ لری هغه کافر دے هغه له به څهٔ عمل فائده نهٔ ورکوی قاضی عیاض ویلی دی په دے خبره باندے اجماع ده. چه کافرانو لره به د هغوی نیک عملونه فائده نهٔ ورکوی. او هغوی ته به د څهٔ قسم اجر نهٔ ملاویږی. نهٔ به ورته آرام وی نهٔ به پرِ عذاب ختمیږی. البته دا به کیږی. چه په کافرانو باندے به د نورو کافرو په نسبت دِ هغوی د عملونو موافق عذاب سخت یا کم وی. ختم شو کلام د قاضی عیاض رحمه الله . امام حافظ فقیه ابوبکر بیهقی رحمه الله په کتاب البعث والنشور کښ د بعضے اهل علمو نه دغه شان نقل کړے دے بیهقی ویلی دی دا خبره ممکنه ده. چه د ابن جدعان حدیث او کوم چه دد ے قسم حدیثونه د هغه کافر په نیکو کښ چه هغه د کفر په حالت کښ مړ شی. مراد د هغے دا شو چه دغه کافر لره به د عذاب نه چرته هم خلاصے نهٔ وی. لیکن د هغه عذاب د هغهٔ د نیکو په وجه سره کمیدے شی. او کهٔ چرے هغه نیکی نهٔ وی کړی نو د هغه عذاب به د هغهٔ په خطایانو باندے سخت وی. علماؤ ویلی دی چه د جدعان خوی به په خلقو باندے غله ډیره خوروله. او هغه د میلمنو دپاره یوه پیاله جوړه کړے وه. چه په هغے باندے به په سیړئ سره ختلو. او هغه د بنی تمیم بن مرّه د قوم نه وو. چه د حضرت عائشے غزیز وو او د قریشو د رئیسانو نه وو . د هغهٔ نوم عبدالله وو. او جدعان بضم جیم د هغهٔ د پلار نوم وو (نووی).

عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِهَارًا غَيْرَ سِرٍّ يَقُولُ أَلَا إِنَّ آلَ أَبِي يَعْنِي فُلَانًا لَيْسُوا لِي بِأَوْلِيَاءَ إِنَّمَا وَلِيِّيَ اللهُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ

د عمرو بن عاص نه روايت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی هغهٔ په زوره سره فرمايلی وو په پټه سره نه. د فلانی اولاد ځما عزيز نهٔ دی. مګر ځما مالک الله دے او ځما عزيز هغه مؤمن دے چه هغه نيک وی[1].

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى دُخُولِ طَوَائِفَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ

باب: د مسلمانانو د يو جماعت بغير د حساب او عذاب نه په جنت كښ د داخليدو بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِي الْجَنَّةَ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ ثُمَّ قَامَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. ځما د امت نه به اويازره كسان بغير د حساب كتاب نه جنت ته ځی. يو سړی اووے يا رسول الله! د الله نه دُعا اوغواړه چه خدائے ما د هغه خلقو نه كړی. هغهٔ اوفرمايل. اے الله! دے د هغه خلقو نه كړه. بيا دويم پاسيدو او اوئے ويل يا رسول الله دُعا اوكړه چهٔ خدائے ما هم د هغه خلقو نه كړی حضرت ﷺ اوفرمائيل چه وړاندے ستا نه دا كار كړے وو عكّاشه[2].

[1] راوی د هغه سړی نوم وانهٔ خستو د يرے د وجے نه د خپل خان يا بل ته د ضرر نه د بچ كولو دپاره. او مقصود د باب دد ے عبارت نه حاصليږی. چه ځما عزيزان او رشته داران هغه دی چه هغه نيک وی. اګر كهٔ هغه په رشته كښ لرے وی. او كوم سړے چه نيک نهٔ وی هغه ځما عزيز نهٔ دے اګر كهٔ په رشته كښ هر څومره نزدے وی. قاضی عياض ليكلی دی چه د فلانی نه مراد حكم بن العاص دے. او دا هغه حكم په جهر سره كړے دے په پټه سره نهٔ دے. دد ے نه معلومه شوه چه د دين د دښمنانو نه ښنهٔ په ښكاره بيزاره كيدل پكار دی او د نيكو خلقو سره محبت كول كهٔ چرے د فساد يره نهٔ وی (نووی)

[2] يعنی هغه د دُعا درخواست كړے دے د تولو نه مخكښ او ما كړيده. اوس هر سړی ته دا مرتبه نهٔ شی حاصليد ے. قاضی عياض ويلی دی چه دويم سړے د دغه مرتبے لائق نهٔ وو او عكّاشه د هغے لائق وو. او بعضو ويلی دی چه هغه منافق وو. نو رسول الله ﷺ هغوی ته ګول ګول جواب وركړو. او دا د اخلاق نه خلاف وه چه هغوی ورته ويلے وے چه تهٔ د هغوی نه نهٔ ئے. او بعضو ويلی دی چه هغوی ته د وحی نه معلومه شوی وی چه ځما دُعا د عكاشه په حق كښ قبوله وی. او د دغه دويم سړی په حق كښ قبليدلو والانهٔ ده. ځكه هغه د بل دپاره دُعا او نهٔ كړه. او خطيب بغدادی ويلی دی چه دويم سړے سعد بن عباده (د انصارو رئيس) وو. كهٔ چرے دا خبره رښتيا وی نو هغهٔ ته منافق ويل شو ليكن آخری قول ظاهر دے او دے له علماؤ اختيار كړے دے.

په دے حديث كښ د امت نبوی لوئے فضيلت دے او د الله جل جلاله دلوئے احسان بيان دے زموږ په پيغمبر باندے د صحيح مسلم په يو روايت كښ داسے دی په دغه اويازره بنيادمو كښبه د هر يو بنيادم سره زركسان نور وی. په دے صورت كښ د

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي زُمْرَةٌ هُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا تُضِيءُ وُجُوهُهُمْ إِضَاءَةَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ الْأَسَدِيُّ يَرْفَعُ نَمِرَةً عَلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. چه فرمائیلی ئے وو څما د امت نه د اویازرو یو جماعت به جنت ته ځی. چه د هغوی مخونه به د څوارلسمے د سپوږمۍ پشان پرقیږی. ابوهریره ؓ ویلی دی. چه دد ے په اوریدو سره عکاشه بن محصن اسدی اودریدو خپل کمبل ئے رااوچت کړو او اوئے ویل. یا رسول الله ﷺ! دعا اوکړه ما ته چه ما لره الله ج د هغه خلقو نه کړی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یا الله ته دهٔ لره د هغه خلقو نه کړه. بیا یو سړی بل د انصارو نه اودریدو او اوئے ویل. یا رسول الله ﷺ دعا اوکړه. چه الله ج ماله هم د هغه خلقو نه کړی. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل. چه دا خبره ستا نه وړاندے عکاشه اوکړله

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا زُمْرَةٌ وَاحِدَةٌ مِنْهُمْ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څما د امت نه به اویازره کسان جنت ته ځی. د هغوی نه به د بعضو شکلونه د سپوږمۍ پشان پرقیږی.

عَنْ عِمْرَانَ قَالَ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ قَالُوا وَمَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ هُمُ الَّذِينَ لَا يَكْتَوُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ فَقَالَ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ أَنْتَ مِنْهُمْ قَالَ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ

د عمران ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څما د امت نه به اویازره کسان بغیر د حسب نه جنت ته داخل شی خلقو تپوس او کړو هغه کوم خلق دی. یا رسول الله ﷺ؟ هغه اوفرمائیل ؛ هغه خلق چه هغه داغ نهٔ ورکوی. او منتر نهٔ کوی. او په خپل پروردګار باندے توکل لری. په دغه وخت عکاشه اودریدو او عرض ئے اوکړه یا رسول الله ﷺ دعا اوکړه چه خدائے ما د هغه خلقو نهٔ کړی. هغه اوفرمائیل ته د هغوی نه ئے. بیا یو بل سړے اودریدو او اوئے ویل ؛ چه اے د الله نبی ﷺ دعا اوکړه چه خدائے ج ما هم د هغه خلقو

تولو بنیادمو تعداد چه بے حسانه به جنت ته ځی څلور اربه او لس اتیا کروړه شو. الله تعالی دِ په خپل فظل سره مونږ هم د هغه خلقو نه کړی امین (نووی مع زیادة)

نهٔ کړی. هغه او فرمائیل چه ستا نه وړاندے عکاشه ویلی وو[۱].

[۱] یعنی په بیماریٔ کښں دوائی علاج او منتر نهٔ کوی په دے خیال سره چه صحت او تندرستی د خدائے په اختیار کښں دي دوائی او علاج بغیر د هغهٔ د مرضیٔ نه څهٔ فائده نهٔ ورکوی. پس اعتماد د هغوی په خدائے باندے وی نووی وائی چه د دے حدیث په مطلب کښں اختلاف کړے دے امام ابو عبد الله مازری وائی ویلی دی چه بعضے خلقو دٔ دے حدیث نه استدلال کړے دے د دوایئ او علاج په ممانعت باندے. حالانکه اکثر علماء د دے خلاف دی. او دلیل د هغوی هغه حدیثونه دی. چه په هغے کښں پخپله پیغمبر ﷺ د دوایانو او غذاګانو فائدے بیان کړی دی. لکه د کلونجی قُسط او ایلوے وغیره. او پخپله هغهٔ په بیماریٔ کښں دوائی کړے ده. او حضرت عائشے د هغه دوایئ لره نقل کړے ده. او هغه منتر خودلے دے او د هغے نه شفا شوے ده او په یو حدیث کښں دی. چه بعضے صحابو د سورة فاتحے منتر کړے وو او په هغے نے أجرت اخستے وو. هر کله چه دا حدیثونه ثابت دی. نو د دے حدیث مطلب داد ے چه کوم خلق دوایانو لره په طبع فائده منده ګڼړی. او د خدائے د اختیار او مرضیٔ قائل نهٔ وی. هغه به جنت ته نهٔ شی تلے. قاضی عیاض ویلی دی چه د دے تاویل په طرف ډیر خلق تلی دی. حالانکه دا تاویل صحیح نهٔ دے. ولے چه رسول الله ﷺ د هغه خلقو غوروالے بیان کړو چه هغه به جنت ته بغیر د حساب او کتاب نه ځی. او د هغوی مخونه به د سپینو زرو په شان پرقیږی. بیا کهٔ چرے دا تاویل او کړے شی کوم چه هغه خلقو کړے دے. نو دا غوروالے به د هغوی سره خاص نهٔ وی. د دے وجے نه چه داحال د ټولو مسلمانانو هم دے. یعنی څوک چه دهغے خلقو اعتقاد لری (یعنی دوائي لره بالطبع او بالذات مؤثره ګڼړی) هغه خو کافر دے نورو علماؤ هم دے حدیث مطلب بیان کړے دے. ابوسلیمان خطابی ویلی دی . مراد د دوایئ د ترک نه داد ے چه هغه اعتماد په الله باندے لری. او د هغهٔ په قضا او امتحان باندے راضی دی هغوی ویلی دی دا درجه ډیره اوچته ده. او یو جماعت د دے په طرف تلے دے قاضی عیاض ویلی دی ظاهر حدیث هم دغه دے. او د حدیث نه دا وتلی دی چه په داغ ورکولو کښں او منتر کولو کښں او نور قسم علاج کولو کښں څهٔ فرق نشته او داؤدی ویلی دی د حدیث نه مقصود داد ے چه هغه خلق د تندرستیٔ په حالت کښں دا کار نهٔ کوی. ځکه چه مکروه دے د صحت په حالت کښں تعویذ او منتر لیکن د بیماریٔ په حالت کښں خو صحیح دے. او بعضو ویلی دی چه د حدیث نه هم دوه قسمه علاجو نه مقصود دی. یعنی منتر کول او داغ لګوه او باقی علاجونه د توکل خلاف نهٔ دی ځکه چه علاج پخپله رسول الله ﷺ کړے دے او د سلفو علماؤ او فضلاؤ کړے دے. او په کوم سبب باندے چه یقین وی لکه خوړل او څکل د مړیدو دپاره هغه توکل لره نهٔ خرابوی. ځکه هغوی علاج کول نهٔ پرے ایخی دی نهٔ نے دوویٔ ګټلو لره د خپل خان دپاره او د بال بچ دپاره د توکل خلاف کړی دی مګر دا ټول هله دی چه د هغهٔ اعتماد په خدائے پاک باندے وی نهٔ پخپله دوایئ او علاج او ګټه باندے او په داغ ورکلو او نور قسم علاج کښں فرق بیانول ډیر او پړدول غواړی او حضرت ﷺ دوارو لره جائز کړی دی. او د دوارو تعریف نے کړے دی لیکن یوه نکته زهٔ بیانوم چه هغه پوره ده. هغه داده. چه حضرت ﷺ پخپله هم دوائی کړے ده او نورو لره نے هم دوائی کړے ده. او داغ هغهٔ نهٔ دے ورکړے. البته بل لره نے ورکړے دے. او په صحیح حدیث کښں ممانعت راغلے دے د داغ ورکولو نه او هغه فرمایلی دی ماته داغ ورکول ښهٔ نهٔ ښکاری. ختم شو کلام د قاضی عیاض. او ظاهر دغه معنی ده کومه چه خطابی اختیار کړے ده او حاصل داد ے چه د هغه خلقو اعتقاد په خدائے پاک قوی شی. او هر کار خدائے پاک ته سپاری. نو کوم آفت چه په هغوی باندے راشی. د هغے د دفع کولو دپاره د دنیاوی اسبابو په طرف هغوی توجه نهٔ ده کړے او بیشکه دا درجه ډیره غوره ده لیکن رسول الله ﷺ چه کوم علاج کړے دے هغه په دے واسطه چه د علاج جائز کیدل خلقو ته معلوم شی (انتهی ما قال النووی) نووی ویلی دی سلفو او خلفو د توکل په حقیقت کښں اختلاف کړے دے. امام ابو جعفر طبری د یو جماعت د سلفو نه نقل کړے دے چه توکل داد ے چه سوا د خدائے نه د بل چا یره پاتے نهٔ شی نهٔ د درندے نهٔ د دشمن او په دوویٔ ګټلو کښں کوشش پریږدی په دے خیال سره چه الله ضامن دے د رزق

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ قَالُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ هُمُ الَّذِينَ لَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَلَا يَكْتَوُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ

د عمران بن حصین نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ځما د امت نه به اویازره کسان بغیر د حساب نه جنت ته تلے شی. خلقو اووے. یا رسول الله ! هغه به څوک وي؟ هغوی اوفرمائیل هغه خلق چه هغه نه منتر کوی نه بد فالی اخلی نه داغ لګوی. او په خپل پروردګار اعتماد لری.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا أَوْ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفٍ لَا يَدْرِي أَبُو حَازِمٍ أَيُّهُمَا قَالَ مُتَمَاسِكُونَ آخِذٌ بَعْضُهُمْ بَعْضًا لَا يَدْخُلُ أَوَّلُهُمْ حَتَّى يَدْخُلَ آخِرُهُمْ وُجُوهُهُمْ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ

د سهل بن سعد نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ځما د امت نه اویازره یا اویا لکه (ابو حازم چه کوم راوی دے دد ے حدیث هغه ته یاد نه دی چه سهل اویازره ویلی دی یا اویالکه) بنیادم به جنت ته ځی. یو بل لره نیولی نیولی (یعنی د یو لاس به دبل په لاس کښں وی. صف ترلی شوی. دد ے دپاره چه ټول به یو ځائے جنت ته لاړ شی دد ے نه معلومیدے شی چه د جنت دروازه څومره پلنه ده) څوک به د هغوی نه مخکښں جنت ته نه ننوځی. د کومے پورې چه د آخر هغه بنده ئے نه وی ننوتے او د هغوی مخونه به د څوارلسمے شپے د سپوږمۍ پشان وی.

عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ فَقَالَ أَيُّكُمْ رَأَى الْكَوْكَبَ

د حصین بن عبد الرحمٰن نه روایت دے چه زۀ د سعید ابن جبیر سره وم. هغوی اووے چه ستاسو نه چا هغه ستورے لیدلے دے

ورکولو او دلیل د هغه خلقو حدیثونه دی او یو جماعت ویلی دی چه توکل داد ے چه انسان په خدائے تعالی اعتماد اولری. او دد ے امر یقین اوکړی چه د هغهٔ حکم جاری دے. لیکن کوشش کوی د دوډۍ په ګټلو کښں او د دشمن نه په بچ کیدلو کښں لکه چه پیغمبرانو کړے دے. قاضی عیاض ویلی دی چه طبری او اکثر فقهاؤ دے قول لره اختیار کړے دے. و بعضے صوفیانو اولنی قول لره اختیار کړے دے. لیکن صوفیه اکثر د فقهاؤ موافق دی. خو هغوی دا ویلی دی. چه توکل صحیح کید ے نه شی د کومے پورے چه ددنیا د اسبابو خیال وی یانے په هغه اسبابو زړۀ ته اطمینان وی البته د اسبابو کول د الله بنودلی شوے طریقه ده. او په دے کښں د هغهٔ حکمت دے مګر دا ضروری ده چه اعتماد په الله وی او دد ے امر یقین وی چه د دنیا په اسبابو سره نهٔ نفع کیږی نهٔ ضرر. بلکه نفع او نقصان خاص د الله پاک د طرفنه دی. ختم شو کلام د قاضی عیاض. استاذ ابوالقاسم قشیری ویلی دی چه د توکل ځائے زړۀ دے. او د ظاهر حرکت د زړۀ د توکل خلاف نه دے. په شرط دد ے چه بنده ته یقین وی چه آسانی او سختی ټول د خدائے د تقدیر نه دی. سهل بن عبد الله تستری ویلی دی توکل داد ے چه د الله په مشیت راضی شی. او خپله اراده په هغے پریږدی. ابو عثمان حیری ویلی دی توکل داد ے چه الله تعالی لره پوره اوګڼری او په هغهٔ باند ے اعتماد اولری. او بعضو ویلی دی چه توکل داد ے چه زیات او کم ټول برابر اوګڼری. والله اعلم

الَّذِي انْقَضَّ الْبَارِحَةَ قُلْتُ أَنَا ثُمَّ قُلْتُ أَمَا
إِنِّي لَمْ أَكُنْ فِي صَلَاةٍ وَلَكِنِّي لُدِغْتُ قَالَ فَمَاذَا
صَنَعْتَ قُلْتُ اسْتَرْقَيْتُ قَالَ فَمَا حَمَلَكَ عَلَى
ذَلِكَ قُلْتُ حَدِيثٌ حَدَّثَنَاهُ الشَّعْبِيُّ فَقَالَ
وَمَا حَدَّثَكُمُ الشَّعْبِيُّ قُلْتُ حَدَّثَنَا عَنْ بُرَيْدَةَ
بْنِ حُصَيْبٍ الْأَسْلَمِيِّ أَنَّهُ قَالَ لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ
عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ فَقَالَ قَدْ أَحْسَنَ مَنِ انْتَهَى إِلَى
مَا سَمِعَ وَلَكِنْ حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ
صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَتْ عَلَيَّ
الْأُمَمُ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ وَمَعَهُ الرُّهَيْطُ وَالنَّبِيَّ
وَمَعَهُ الرَّجُلُ وَالرَّجُلَانِ وَالنَّبِيَّ لَيْسَ مَعَهُ
أَحَدٌ إِذْ رُفِعَ لِي سَوَادٌ عَظِيمٌ فَظَنَنْتُ أَنَّهُمْ
أُمَّتِي فَقِيلَ لِي هَذَا مُوسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَقَوْمُهُ وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْأُفُقِ فَنَظَرْتُ
فَإِذَا سَوَادٌ عَظِيمٌ فَقِيلَ لِي انْظُرْ إِلَى الْأُفُقِ
الْآخَرِ فَإِذَا سَوَادٌ عَظِيمٌ فَقِيلَ لِي هَذِهِ أُمَّتُكَ
وَمَعَهُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ
حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ ثُمَّ نَهَضَ فَدَخَلَ مَنْزِلَهُ
فَخَاضَ النَّاسُ فِي أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْخُلُونَ
الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ فَقَالَ بَعْضُهُمْ
فَلَعَلَّهُمُ الَّذِينَ صَحِبُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ فَلَعَلَّهُمُ الَّذِينَ
وُلِدُوا فِي الْإِسْلَامِ وَلَمْ يُشْرِكُوا بِاللَّهِ وَذَكَرُوا

چه هغه پرون شپه مات شوے وو. ما اووے. چه زهٔ په څهٔ مانځهٔ کښې مشغول نهٔ وم (دا دے نه غرض دا دے چه څوک ماله عابد ، شب بیدار خیال نهٔ کړی) بلکه زهٔ لړم چیچلے وم (نو ماله خوب نهٔ راتلو او ستورے مات شوے م اولیدو) سعید اووے. بیا تا څهٔ اوکړو؟ ما اووے ما منتر اوکړو. هغوی اووے تا منتر ولے کوو؟ ما اووے د هغه حدیث د وجے نه کوم چه شعبی ماته بیان کړے دے. هغوی اووے شعبی کوم حدیث بیان کړے دے ما اووے هغوی ماته حدیث بیان کړے دے د بریده بن حصیب اسلمی نه هغوی اووے چه منتر فائده نهٔ ورکوی مګر د نظر دپاره یا د چیچلی شوی دپاره (یعنی د بد نظر د اثر لرے کولو دپاره یا د لړم او مار وغیره د چیچلی شوی دپاره فائده ورکوی) ابوسعید وئیلی دی چاچه واوریدل او په هغے باندے عمل اوکړو نو ښهٔ ئے اوکړل لیکن موږ ته خو عبد الله بن عباس حدیث بیان کړے دے. هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. خما مخے ته د پیغمبرانو امتونه راوستلے شو. بعضے پیغمبر داسے وو چه د هغهٔ د امت خلق د لسو نه هم کم وو. او د بعضے پیغمبر سره یو یا دوه امتیان وو. او د بعضے سره یو هم نهٔ وو. په دے کښې یو لوئے امت راغے زهٔ پوهه شوم چه دا خما امت دے. ماته اووئیلے شو چه دا موسیٰ علیه السلام دے او د هغهٔ امت دے. ته د اسمان غاړے ته اوګوره ما چه اوکتل چه یو بل لوئے جماعت دے ماته اووئیلے شو چه دا ستا امت دے. او په دغه خلقو کښې اویازره بنیادم داسے دی چه هغه به بغیر د حساب او عذاب نه جنت ته ځی. بیا هغه پاسیدو او خپل کور ته ئے تشریف یوړلو. نو خلقو خبرے کولے د هغه خلقو په باره کښې چه

أَشْيَاءَ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا الَّذِي تَخُوضُونَ فِيهِ فَأَخْبَرُوهُ فَقَالَ هُمُ الَّذِينَ لَا يَرْقُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ أَنْتَ مِنْهُمْ ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأُمَمُ ثُمَّ ذَكَرَ بَاقِيَ الْحَدِيثِ نَحْوَ حَدِيثِ هُشَيْمٍ وَلَمْ يَذْكُرْ أَوَّلَ حَدِيثِهِ

هغه به بې حسابه او بې عذابه جنت ته تلې شي بعضو اووې کيدې شي هغه هغه خلق دي چه د رسول الله ﷺ په صحبت کښې پاتې دي او بعضو اووې نه شايد هغه خلق دي چه هغه د اسلام په حالت کښې پيدا شوی دي او هغوی د الله سره څوک شريک کړې نه دې. او بعضو څۀ نور څۀ اووې چه په دې کښې رسول الله ﷺ بهر رااووتو او اوئې فرمائيل ! تاسو خلق په څۀ څيز کښې بحث کوئ؟ هغوی هغه ته خبر ورکړو. بيا هغه اوفرمائيل دا هغه خلق دي چه هغه نۀ منتر کوی. نۀ منتر ساتي نۀ منتر کول غواړی نۀ بد فال اخلي او په خپل پروردګار اعتماد لري. ددې د اوريدو سره عکاشه ؓ د محصن ځوئې پاسيدو او هغه اووې تۀ د الله نه دُعا اوکړه. چه ما لره د هغه خلقو نه کړي. هغه اوفرمائيل تۀ د هغه خلقو نه ئې بيا يو بل سړې پاسيدو او اوئې ويل دُعا اوکړه چه ما هم الله د هغوی سره کړي هغۀ اوفرمايل چه عکاشه ؓ ستا نه مخکښې دا کار اوکړلو[1]

بَابُ كَوْنِ هَذِهِ الْأُمَّةِ نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ

باب : د جنت نيم خلق به ددې امت وي

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت دې. چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. ولې تاسو په دې خبره خوشحاله نۀ يئ چه د جنتيانو څلورمه حصه به ستاسو نه وي. ددې په اوريدو مونږ تکبير اولوستو بيا هغوی اوفرمائيل ولې تاسو په دې خبره نۀ خوشحاليږئ چه دريمه

[1] خطابي رحمه الله ويلي دي. چه د بريده ؓ د روايت دا مطلب دې چه يو منتر زياته فائده ورکونکې د نظر او لښې د منتر نه نۀ دې. او د نظر په اثر کولو کښې شک نشته او هغه رښتيار دې او رسول الله ﷺ منتر کړې دې او نورو ته ئې هم حکم ورکړې دې. بيا کۀ چرې منتر د قران د ايتونو يا د الله د نومونو نه وي نو د هغې کول مباح دي او کراهت په هغه منتر کښې دې چه هغه په عربئ ژبه کښې نۀ وي او دهغې مطلب معلوم نۀ وي ددې احتمال نه چه شايد په هغې کښې د کفر الفاظ وي يا څۀ داسې خبره وي چه د هغې نه شرک لازميږي او احتمال دې چه منتر مکروه وي هغه چه د جاهليت په طرز باندې وي. دهغه خلقو خيال دا وو چه جنات زمونږه مدد کوی او افتونو لره لرې کوی. ختم شو کلام د خطابي

قَالَ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَسَأُخْبِرُكُمْ عَنْ ذٰلِكَ مَا الْمُسْلِمُونَ فِي الْكُفَّارِ إِلَّا كَشَعْرَةٍ بَيْضَاءَ فِي ثَوْرٍ أَسْوَدَ أَوْ كَشَعْرَةٍ سَوْدَاءَ فِي ثَوْرٍ أَبْيَضَ

حصه د جنتيانو به تاسو يئ. دا دے په اوريدو سره مونږ تكبير اووے بيا هغهٔ اوفرمائيل چه ځما اميد دے. چه په جنتيانو كښې به نيم تاسو خلق يئ. او د هغے وجه داده. چه هغه زهٔ بيانوم چه مسلمانان په كافرانو كښې داسے دی. لكه چه سپين ويختهٔ په تور غوئی كښې وی. يا يو تور ويختهٔ په سپين غوئی كښې وی[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قُبَّةٍ نَحْوًا مِنْ أَرْبَعِينَ رَجُلًا فَقَالَ أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ قُلْنَا نَعَمْ فَقَالَ أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَقُلْنَا نَعَمْ فَقَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَذَاكَ أَنَّ الْجَنَّةَ لَا يَدْخُلُهَا إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ وَمَا أَنْتُمْ فِي أَهْلِ الشِّرْكِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ أَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَحْمَرِ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه مونږ د رسول اللهﷺ سره وو په يوه خيمه كښې چه په هغے كښې تقريباً څلويښت سړی به وو. هغهٔ اوفرمائيل. ولے تاسو په دے خبره خوشحاله يئ چه د جنت څلورمه حصه تاسو خلق شئ مونږه اووے. آو. بيا هغهٔ اوفرمائيلی تاسو په دے خبره خوشحاله يئ چه د جنت دريمه حصه تاسو يئ. مونږ اووے. آو. هغه اوفرمايل قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس كښې د محمدؐ روح دے. اميد دے چه تاسو به د جنتيانو په نيمه يئ او دا ځكه چه جنت ته به هغه ځی چه هغه مسلمان دے. او مسلمانان د مشركانو په دننه داسے دی. لكه چه سپين ويختهٔ د تور غوئی په څرمنه كښې وی. يا تور ويختهٔ د سور غوئی په څرمنه كښې وی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْنَدَ ظَهْرَهُ إِلَى قُبَّةِ أَدَمٍ فَقَالَ أَلَا لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ اَللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ أَتُحِبُّونَ أَنَّكُمْ رُبُعُ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَقُلْنَا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ أَتُحِبُّونَ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه خطبه لوسته زمونږ په مخكښې رسول اللهﷺ وے فرمائيل چه خبردار شئ. نهٔ به ننوځی څوک جنت ته مگر هغه چه مسلمان دے. يا الله ما ستا پيغام اورسوو. يا الله ته گواه شه ولے تاسو غواړئ چه د جنت څلورمه حصه خلق ستاسو نه وی؟ مونږه اووے. آو يا رسول اللهؐ! هغهٔ اوفرمائيل ولے تاسو غواړئ چه د جنت دريمه حصه خلق د ستاسو نه وی؟ ټولو اوفرمائيل. آو يا رسول

[1] يعني په دنيا كښې په هره زمانه كښې د كافرانو شمار سوا وی. په دے وجه سره جنتی خلق ډير كم وی. او د دے امت خلق به د جنتيانو نيم عدد لره گهيره وی. كۀ چرے جنتيان ډير وے. نو التبه د هغے نيم خلق د دے امت نه كيدل د قياس نه لرے وو.

تَكُونُوا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ مَا أَنْتُمْ فِي سِوَاكُمْ مِنَ الْأُمَمِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي الثَّوْرِ الْأَبْيَضِ أَوْ كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ

الله! هغهٔ اوفرمايل چه خما أميد دے چه تاسو به د جنتيانو په نيمه يئ تاسو په مخافو خلقو کښې داسے يئ لکه يو خور ويختهٔ په سپين غوئي کښې يا يو سپين ويختهٔ په تور غوئي کښې[1]

بَابُ قَوْلِهِ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى لِآدَمَ أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ

باب: دا چه الله به آدم ته اوفرمائی چه هر زرو تنو کښې نهه سوه نهه نوی دوزخ ته بيل کړه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا آدَمُ فَيَقُولُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ قَالَ يَقُولُ أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ قَالَ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ قَالَ فَذَاكَ حِينَ يَشِيبُ الصَّغِيرُ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ قَالَ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّنَا ذَلِكَ الرَّجُلُ فَقَالَ

د ابوسعيد نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه الله تعالی به اوفرمائی. اے ادم! هغه به اووائی حاضر يم ستا په خدمت کښې ستا په اطاعت کښې او توله نيکی ستا په لاس کښې ده. حکم به اوشی چه د دوزخيانو يو جماعت اوباسه هغه به عرض اوکړی د دوزخيانو څنګه جماعت؟ حکم به اوشی د هر زرو بنيادمو نه نهه سوه او يو کم سل تنه د جهنم دپاره اوباسه (او يو سړے به په زرو کښې جنت ته ځی) هغه اوفرمائيل دا هغه وخت دے چه بچے به بوډها شی (په وجه د يرے) او خوف يا د هغه ورځے د لوئے والی د وجے نه) او هره يوه حامله به خپل حمل اوغورځی. او ته به اووينے خلقو لره لکه چه په نشه کښې مست دی او هغه به مست نهٔ وی خو د الله عذاب به سخت وی. صحابه دد دے امر په اوريدو سره سخت خفه شول او اوئے ويل يا رسول الله! کوم د هغه زرو

---

[1] هغه په ورمبی خل دا نهٔ فرمائيل. بلکه ورمبی وار څلورمه حصه بيا دريمه حصه او بيائے نيمه او فرمايله دد دے نه دا غرض دے چه زيات خوشحاله شی. دويمه دا چه د هغوی عزت او عظمت ثابت شی. ځکه چه بار بار چا بنيادم لره د ورکولو نه دا رااوخی چه ورکونکی ته د هغهٔ لوئے خيال دے. دريمه دا چ هغه خلق بار بار د خدائے تعالی تعريف کوی او د هغهٔ شکر ادا کوی دد دے حديث نه دا خبره وتلے ده. چه د امت محمدی نه به د جنت بنيادم نيم خلق وی. او په دويم حديث کښې داسے دی چه د جنتيانو به يو سل شل صفونه وی د هغوی نه به اتيا صفونه دد دے امت د خلقو وی. دد دے نه دا معلوميږی چه په دريوو کښې به دوه حصے د امت محمدی نه وی. کيدے شی چه اول رسول الله ﷺ ته د نيم خبر ورکړے شوی وی بيا د الله پاک په خپل عنايت سره نور زيات کړل. دوه حصے په دريوو کښې ئے د هغهٔ د امتيانو جنتيان کړل (نووی)

أَبْشِرُوا فَإِنَّ مِنْ يَأْجُوجَ وَ مَأْجُوجَ أَلْفًا وَ مِنْكُمْ رَجُلٌ قَالَ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَطْمَعُ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَحَمِدْنَا اللهَ وَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَطْمَعُ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَحَمِدْنَا اللهَ وَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَطْمَعُ أَنْ تَكُونُوا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِنَّ مَثَلَكُمْ فِي الْأُمَمِ كَمَثَلِ الشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ أَوْ كَالرَّقْمَةِ فِي ذِرَاعِ الْحِمَارِ

نه یو بنده څه کوم جنتی دے) په مونږ کښې به شوک اوشی هغهٔ اوفرمائیل چه تاسو خوشحاله شئ چه د یاجوج او ما جوج کافر دومره قدرے دی چه کهٔ چرے د هغوی حساب اوکړئ نو ستاسو نه به یو بنده او د هغو نه به زر تنه برابر شی. بیا هغه اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې څما روح دے. څما اُمید دے چه په جنت کښې څلورمه حصه بندیګان ستاسو نه وی په دے باندے مونږ د الله تعریف اوکړو او تکبیر مو اووے. بیا هغه اوفرمائیل. چه قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې څما روح دے. څما اُمید دے چه په جنت کښې به دریمه حصه بندیګان ستاسو نه وی. په دے باندے مونږ د الله تعالی تعریف اوکړو. او تکبیر مو اووے. بیا هغهٔ اوفرمائیل چه قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې څما روح دے. څما اُمید دے چه د جنت نیم خلق به ستاسو نهٔ وی. ستاسو مثال د نورو امتونو په مخکښې داسے دے لکه چه یو سپین ویختهٔ د تور غوئی په څرمنه کښې وی یا یو نخښه د خر په خپه کښې چه وی[1].

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُمَا قَالَا مَا أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ فِي النَّاسِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ أَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي الثَّوْرِ الْأَبْيَضِ وَلَمْ يَذْكُرَا أَوْ كَالرَّقْمَةِ فِي ذِرَاعِ الْحِمَارِ

د دویم روایت بیان دغه دے. کوم چه وړاندے تیر شو. په دے کښې دادی چه تاسو به په هغه ورځ د نورو خلقو په مخ کښې داسے یئ لکه چه یو سپین ویختهٔ په تور غوئی کښې یا تور ویختهٔ په سپین غوئی کښې وی. او د خر د خپو د نخښې ئے ذکر نهٔ دے کړے.

---

[1] علماؤ اختلاف کړے دے چه دا خبرے به کوم وخت کیږی. بعضو ویلی دی د قیامت قائمیدو په وخت دد نیا فناه کیدو نه مخکښې. او بعضو ویلی دی د حشر په ورځ. په دے صورت کښې د بچی غورځیدو نه دا مراد دے چه په هغه وخت به داسے هیبت او یره وی چه کهٔ چرے څوک ښځه هلته حامله وی نو د هغے بچے به اوغورځیږی. او دغه مراد دے د بچی د بوډا کیدو نه. نووی رحمه الله وهب بن مُنَبِّه او مقاتل ویلی دی چه یا جوج او ماجوج د یافث بن نوح اولاد ته ویلے شی. او ضحاک ویلی دی هغه د ترکیانو یو قوم دے او کعب ویلی دی هغه د آدم اولاد دی لیکن د حوا د ګیډے نه نهٔ دی. او د هغے وجه داده. چه یوه ورځ آدم علیه السلام ته احتلام اوشو او د هغهٔ نطفه د خاورو سره میلاؤ شوه. نو الله تعالی د هغے خاورے نه یا جوج او ماجوج لره پیدا کړل. والله أعلم (نووی)

كِتَابُ الطَّهَارَةِ

د طهارت (د پاكوالي) مسئلے

هر څومره د ايمان نه پس په عباداتو كښې مونځ مخكښې دے خو د مانځهٔ شرط پاک والے دے څكه خو مخكښې ئے طهارت بيان كړو.

بَابُ فَضْلِ الْوُضُوءِ

عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطُّهُوْرُ شَطْرُ الْإِيمَانِ وَالْحَمْدُ للهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ تَمْلَآنِ أَوْ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالصَّلَاةُ نُورٌ وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَايِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا

باب: د اودس د غوره والي بيان

د ابومالک اشعري ؓ نه (چه د هغهٔ نوم حارث يا عبيد يا كعب بن عاصم يا عمرو دے) روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه پاكوالے د نيم ايمان برابر دے. او اَلْحَمْدُ لله ډكوي به تلے لره. (يعني دومره قدرے ددے ثواب عظيم دے چه د عملونو د تللو تله به ددے په اجر سره ډكيږي) او سُبْحٰنَ الله او اَلْحَمْدُ لله دواړه به ډكوي د آسمانونو او دزمكے په مينځ كښې ځائے لره (كهٔ چرے د هغے ثواب د يو جسم شكل فرض كړے شي) او مونځ نور دے او صدقه دليل دے. او صبر رڼرا ده. او قرآن ستا دليل دے په بل باندے يا د بل دليل دے پتا باندے (يعني كهٔ د پوهے سره ئے لولي او فائده اوچته كړي نو ستا دليل دے كهٔ داسے نهٔ وي نو بل ته به فائده شي او تهٔ به محرومه پاتے شي) هر يو سړے (كهٔ نيک وي يا بد) سحر چه پاسي. يا آزاد وي خان خپل لره (په نيک كار كولو سره د خدائے د عذاب نه) يا (بد كار كوي) او خپل ځان لره تباه كوي[1].

---

[1] يعني د طهارت ثواب دومره زياتيږي چه د ايمان د نيم ثواب برابريږي او بعضو ويلي دي. چه ايمان هغه تولو ګناهونو لره چه د ايمان د راوړو نه مخكښې شوي وي ختموي. دغه شان حال د اودس هم دے. ولے چه اودس بغير د ايمان نه نهٔ صحيح كيږي. او هر كله چه اودس په ايمان باندے موقوف شو نو د نيم ايمان برابر شو او بعضو ويلي دي چه د ايمان نه په دے حديث كښې مونځ مراد دے. لكه چه الله تعالي فرمائي. وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ يعني الله تعالي ستاسو مانځهٔ لره نهٔ بيكاره كوي. او پاكوالے شرط دے د مانځهٔ

بَابُ وُجُوبِ الطَّهَارَةِ لِلصَّلَاةِ

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ دَخَلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى ابْنِ عَامِرٍ يَعُودُهُ وَهُوَ مَرِيضٌ فَقَالَ أَلَا تَدْعُو اللهَ لِي يَا ابْنَ عُمَرَ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ وَكُنْتَ عَلَى الْبَصْرَةِ

باب: د مانځۀ دپاره پاکوالے ضروري دے

د مصعب بن سعد نه روایت دے چه عبد الله بن عمر رضی الله عنه د ابن عامر خواله راغے. هغه بیماروو. دهغۀ تپوس لره. ابن عامر اووے اے ابن عمر رضی الله عنه ته خما دپاره دعا نۀ کوے. هغوی اووے. چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. چه هغه فرمایلی وو الله پاک نۀ قبلوی مونځ بغیر د طهارت نه[1].

خکه د نیم مانځۀ برابر شو. او په حدیث کښې د شطر لفظ راغلے دے. او په شطر کښې دا ضروری نۀ ده چه برابر د نیم نیمه د وی. او دا په تولو قولونو کښې ښۀ دے. او احتمال دے چه مراد د حدیث نه دا وی چه د ایمان دوه جزه دی. یو د زړۀ نه یقین کول بل په ظاهر کښې اطاعت کول او طهارت مقدمه ده د مانځۀ او مونځ اطاعت دے. خکه طهارت د ایمان نیمه حصه شوه والله اعلم (نووی) او مونځ د ګناهونو نه او بدو نه خلقو لره منع کوی. او د نیکو طرفته ئے بیائی. او ثوابونه او نیکئ پر کوی لکه چه د نور نه دا خبرے حاصلیږی. او بعضو ویلی دی چه مونځ نور دے. ددے وجے نه چه په مانځۀ کولو سره قسم قسم معارف او مکاشفات حاصلیږی. خکه چه زړۀ په دغه فارغ وی او د الله طرفته متوجه وی. او پخپله الله تعالی فرمائی مدد غواړئ خمانه په صبر او مانځۀ سره او بعضو ویلی دی چه د مانځۀ د کولو والا په مخ باندے به یو نُور وی د قیامت په ورځ او په دنیا کښې هم د مونځ ګذار په مخ باندے نُور وی. والله اعلم (نووی) او صدقه ورکونکی والاد خلاصی دپاره به صدقه د قیامت په ورځ باندے دلیل وی. خکه چه منافق صدقه نۀ ورکوی. او نۀ په صدقه کښې څۀ د فاندے خیال کوی. او هغه صبر کوم چه شرعًا محبوب دے. هغه څۀ دے صبر کول د الله تعالی په اطاعت باندے. او صبر کول د ګناهونو نه بچ کیدو دپاره. او صبر کول په مصیبتونو باندے او ددنیا په تکلیفونو باندے او غرض داد ےچه صبرښانسته څیز دے. او کوم بنده چه صبر کونکے دے هغه د هدایت او رنړا په لاره باندے دے ابراهیم خوّاص فرمائیلی دی. صبر څۀ دے ؟ کلک اوسیدل په کتاب الله او حدیث رسول الله ﷺ باندے. ابن عطاء ویلی دی صبر څۀ دے؟ د مصیبت په وخت خپلے ژبے لره صحیح ساتل د ادب سره. استاذ ابوعلی وقاق ویلی دی. د صبر حقیقت داد ے چه څۀ الله تعالی په تقدیر کښې لیکلي وی په هغے باندے اعتراض نۀ کوی لیکن ظاهرول د خپل مصیبت د صبر خلاف نۀ دي چه په طور د شکایت نۀ وی ولے چه ایُوب ته الله تعالی صابر ویلے دے. او هغوی دا ویلی وو چه ما ته تکلیف او بیماری ده (نووی)

[1] نووی ویلی دی چه دا حدیث نص دے د طهارت په وجوب باندے د مانځۀ دپاره او اجماع کړے ده امت په دے امر باندے چه طهارت د مانځۀ د صحت شرط دے. قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی اختلاف کړے دے علماؤ چه طهارت ولے فرض شوے دے د مانځۀ دپاره. ابن جهم ویلی دی. د اسلام په شروع کښې اودس سنت وو بیا د تیمم په آیت کښې ددے فرضیت نازل شو. او جمهورو علماؤ ویلی دی چه اودس ددے نه وړاندے هم فرض وو خو هغوی اختلاف کړے دے په دے کښې چه د هر یو مانځۀ دپاره اودس فرض دے یا په هغه حالت کښې هر کله چه بے اودسه شی. نو د سلفو څۀ عالمان په دے طرف تلی دی چه د هر مانځۀ دپاره اودس فرض دے اګر چه بے اودسه شوے نۀ وی. او دلیل دهغوی دا قول دے د الله تعالی إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ د آخره پورے. یعنی هر کله چه تاسو پاځئ د مانځۀ دپاره نو وینځئ مخ خپل او لاسونه خپل او په دے کښې قید د بے اودسه کیدو نشته او د یو جماعت قول داد ے چه د

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ أَخِي وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ أَحَدِكُمْ إِذَا

د حمام بن منبه نه روایت دے. چه هغه د وهب بن منبه دے. هغوی وئیلی دی چه دا هغه حدیثونه دی. چه ابو هریرهؓ مونږ ته بیان کړی دی. د حضرت محمد ﷺ نه بیانئے ذکر کړل حدیثونو لره. په هغے کښ یو حدیث دا هم وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی . چه الله تعالی نۀ قبلوی ستاسو نه د چا مونځ کله چه هغه بے اودسه وی.

اسلام په اول کښ دغه شان حکم وو بیا منسوخ شوے دے. او بعضو ویلی دی. چه دا حکم استحباباً دے نۀ وجوباً او د بعضو په نز اودس په هغه وخت شروع شوے وو کله چه بنیادم بے اودسه شو البته تازه اودس کول د هر یو مانځۀ دپاره مستحب دی او په دے قول باندے اجماع کړے ده د فتوے خاوندانو. او په هغے کښ څۀ اختلاف نۀ دے پاتے. او په ایت مذکوره کښ د محدثین لفظ مقدر دے یعنی هر کله چه پاڅئ تاسو د مانځۀ دپاره د بے اودسئ په حالت کښ. ختم شو کلام د قاضی عیاضؒ. او زمونږه ملګرو اختلاف کړے دے په دے کښ چه د اودس د واجب کیدو علت څۀ دے؟ بعضو ویلی دی چه اودس واجبیږی په بے اودسئ سره. او بعضو ویلی دی نۀ واجبیږی د هغے پورې چه د مانځۀ دپاره نۀ وی پاڅیدلے. او بعضو ویلی دی چه په دواړو امرونو سره واجبیږی. او زمونږ د ملګرو په نز دغه راتنج دی او اجماع پرے کړے ده امت چه مونځ بغیر د طهارت نه حرام دے. خواه کۀ دا پاکوالے په اُوبو سره وی یا په خاؤره سره او څۀ فرق نشته په فرض او نفل مانځۀ کښ او د سجده تلاوت او سجده د شکر او د جنازے په مانځۀ کښ. مګر د شعبیؒ او محمد بن جریر طبریؒ نه منقول دی چه د جنازے مونځ بغیر د طهارت نه جائز دے. او دا مذهب باطل دے. او د ابن تیمیه نه منقول دے چه سجده د تلاوت بغیر د طهارت نه صحیح ده. او اجماع کړے ده علماؤ د هغے په خلاف باندے. او کۀ چرے یو بنده قصداً بے اودسه مونځ اوکړلو نو هغه ګنهګار شو. لیکن کافر نۀ دے. دغه زمونږه او د جمهور علماؤ مذهب دے. او د امام ابوحنیفهؒ نه منقول دے چه هغه به کافر کیږی. ځکه چه هغه د دین سره توقے اوکړے. او زمونږ دلیل دا دے چه نشته مګر په اعتقاد سره. او دغه مونځ کونکی اعتقاد خو صحیح دے. مګر دا هله ده چه دغه مونځ ګذار ته څۀ عذر نۀ وی کچرے عذر وی مثلاً اُوبۀ نۀ ملاویږی نۀ خاؤره وی نو په دے کښ د امام شافعیؒ څلور قولونه دی. او د هر یو قول په طرف علماؤ تلی دی. د ټولو نه زیات صحیح قول دا دے چه مونځ د اوکړی بغیر د طهارت نه بیا چه کله طهارت ممکن شی نو د مانځۀ اعاده (یعنی بیا دوباره دئے اوکړی. دویم قول دا دے چه مونځ د نۀ کوی او هر کله چه طهارت ممکن شی نو بیا د ئے قضاء اوکړی. دریم قول دا دے چه مونځ کول مستحب دی مګر قضائے واجب ده. څلورم قول دا دے چه مونځ د اوکړی او قضائے واجب نۀ ده. او دغے قول لره مزنیؒ اختیار کړے دے. او دا د وجے د دلیل په ټولو قولونو کښ صحیح دلیل دے یعنی قوی. ځکه چه د مانځۀ واجب کیدل خو د حدیث نه ثابت دی. پیغمبر ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه زۀ تاسو ته د څۀ کار حکم اوکړم نو تاسو هغے لره په ځانے راوړئ. د کومے پورے چه ستاسو نه کیدے شی. او د بیا راګرځولو دپاره څۀ نوے امر پکار دے. او هغه امر موجود نۀ دے (نووی مع زیادة). او په مال غنیمت کښ صدقه نۀ قبلیږی. د دے وجے نه چه د غنیمت د مال نه به ضرور تاسو غلا کړی وی. یا د الله تعالی د نورو بندګانو حقوق به په تاسو باندے وی. بیا د داسے سړی دپاره دُعا څۀ فائده ورکوی. او ظاهره خبره ده چه عمر رضی الله عنه ویلی په طریقه د زجر او د تشدد وو. او د دے نه دا غرض وو چه ابن عامر اوس هم د غفلت نه بیدار شی او توبه کړی. ګنی دُعا د فاسقانو دپاره مفید ده. همیشه رسول الله ﷺ او سلفو او خلفو د کافرانو او ګنهګارانو دپاره دُعاګانے کړی دی چه خدائے پاک د هغوی ته هدایت اوکړی. او توبه د ئے نصیب کړی (نووی)

أحدث حتّى يتوضّأ

باب صفة الوضوء وكماله

عن حمران مولى عثمان أخبره أنّ عثمان بن عفّان رضي الله عنه دعا بوضوء فتوضّأ فغسل كفّيه ثلاث مرّات ثمّ مضمض واستنثر ثمّ غسل وجهه ثلاث مرّات ثمّ غسل يده اليمنى إلى المرفق ثلاث مرّات ثمّ غسل يده اليسرى مثل ذلك ثمّ مسح رأسه ثمّ غسل رجله اليمنى إلى الكعبين ثلاث مرّات ثمّ غسل اليسرى مثل ذلك ثمّ قال رأيت رسول الله صلّى الله عليه وسلّم توضّأ نحو وضوئي هذا ثمّ قال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم من توضّأ نحو وضوئي هذا ثمّ قام فركع ركعتين لا يحدّث فيهما نفسه غفر له ما تقدّم من ذنبه قال ابن شهاب وكان علماؤنا يقولون هذا الوضوء أسبغ ما يتوضّأ به أحد للصّلاة

دهغې پوره چه اودس اوکړی.

باب: د اودس طریقه او د هغې د پوره کولو بیان

د حمرانؒ نه روایت دے. چه هغه مولا (یعنی ازاد کړے شوے غلام) وو د عثمان بن عفانؓ هغوی ویلی دی چه حضرت عثمان بن عفانؓ د اودس اُوبۀ اوغوښتلے او اودس ئے اوکړو. نو اول ئے دواړو ورغوږو لره اووینځل درے واره. بیائے غرغره اوکړه او پوزے ته ئے اوبه واچولے. بیائے درے پیرے مخ اووینځلو. بیائے درے پیرے خپل ښی لاس اووینځلو ترڅنګلو پورے. بیائے ګس لاس اووینځلو درے ځله بیائے مَسح د سر اوکړه. د پړکو پورے بیائے ښے خپه اووینځله درے ځله بیائے ګسه خپه اوینځله د پړکو پورے درے ځکه. ددے نه پس ئے اووے چه رسول اللهﷺ مالیدلے دے چه دغه شان اودس ئے کوؤ لکه څنګه چه ما اوس اودس اوکړلو. بیا هغۀ اوفرمایل !کوم سړے چه څما د اودس په شان اودس اوکړی بیا اودریږی او دوه رکعته مونځ اوکړی. او په مینځ د هغے کښ په بل څۀ خیال کښ غرق نۀ شی. نو د هغۀ اولنی ګناهونه اوبخښلے شی. ابن شهابؒ ویلی دی زمونږ علماؤ ویلی وو. چه دا اودس په تولو اودسونو کښ پوره دے. کوم چه د مانځۀ دپاره اوکړلے شی[1].

[1] ددے حدیث نه معلومه شوه. چه د اودس په شروع کښ درے ځله د ورغوږ یعنی لاسونه د مرondونو پورے وینځل سنت دی. او په دے باندے د علماؤ اتفاق دے (نووی). نووی ویلی دی چه د غرغرے کمال دادے چه اوبۀ خُلے ته واچوی بیا ئے په خلۀ کښ خورے کړی. او د هغے نه پس ئے بیا تهوک کړی. او ادنی درجه د هغی داده چه اُوبۀ به صرف خلے ته واچوی خوزوی به ئے نه. لیکن خوزول د اوبو خو د مشهور قول په موافق شرط نۀ دی. او دا مذهب د جمهور علماؤ دے. لیکن زمونږ د بعضے ملګرو په نز شرط دے. او دا اختلاف هم هغه شان دے لکه چه د سر په مسحه کښ اختلاف دے. د بعضو په نز کۀ چری لوند لاس په سر باندے کیږدی نو مسح اوشوه. لیکن د بعضو په نز د هغے خوزول ضروری دی. لیکن صحیح دادے چه خوزول ضروری نۀ دی. پښان د نورو اندامونو هغے ته اوبۀ رسول پوره دی. په حدیث کښ د اِستِنثَـر لفظ دے. اکثر د لُغتو خاوندان او فقهاء او محدثینو د اِستِنثَار د پوزے د فرنجولو دپاره کړے ده. ابن اعرابی او ابن قتیبه رحمهما الله په پوزه کښ د اُوبو اچولو معنی کړے ده او صحیح اولنے قول دے. او په دویم روایت

کښې تاکید دے په هغے کښې دادی چه اول ئے استنشاق اوکړهٔ یعنی په پوزه کښې ئے اُوبهٔ واچولے بیائے استنثار اوکړو یعنی پوزه ئے سونړ کړه د فراء نه منقول دی چه استنثار ویلے شی د پوزے خوزولو ته په طهارت کښې. او استنشاق ویلے شی په پوزه کښې دننه اُوبهٔ رسول او د ساه په زور سره د اُوبو بره راخکودلو ته. او مستحب ده چه خلے ته او پوزے ته په اوبو اچولو کښې مبالغه اوکړی. مګر روژه په خله مبالغه کول مکروه دی ولے چه د لقیط نه روایت دے. چه رسول ﷺ فرمائیلی دی. مبالغه کولو سره په پوزه کښې په اوبو اچولو کښې مګر کله چه تهٔ روژه دارئے. او دا حدیث صحیح دے. روایت کړے دے دے لره ابوداؤد او ترمذی د سندونو صحیحو نه ترمذی ویلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دے. زمونږ ملګرو ویلی دی چه کله په څهٔ شان سره اوبهٔ پوزے او خلے ته اورسیدے. نو مضمضه او استنشاق ادا شو او غوروالے څنګه دی په دے کښې پنځهٔ قولونه دی. اولنے قول دادے چه درے چونګه اوبهٔ به واخلی او په هر یو چونګ سره به غرغره کوی. او په پوزه کښې به اوبهٔ اچوی. دویم قول دادے چه په یو چونګ سره به درے خله غرغره کوی. بیا درے خله به په پوزه کښې اوبهٔ اچوی. دریم دادے چه یو چونګ به واخلی او غرغره به اوکړی. بیا به په پوزه کښې اوبهٔ واچوی. بیا به غرغره اوکړی او په پوزه کښې به اُوبهٔ واچوی. بیا به غرغره اوکړی. او په پوزه کښې به اُوبهٔ واچوی. څلورم دادے چه دوه چونګه اوبهٔ به واخلی. په یو چونګ سره به درے خله غرغره اوکړی. او د دویم چونګ نه به درے خله په پوزه کښې اوبهٔ واچوی. پنځمه دا چه شپږ چونګه اوبهٔ به واخلی. اولنی درے چونګه به خلے ته واچوی. ورستنی درے چونګه به پوزے ته واچوی. او صحیح اولنے قول دے او دغه د حدیث نه ثابت دے. چه هغے لره روایت کړے دے بخاری او مسلم (نووی).

نوی ویلی دی دا حدیث اصل عظیم دے په صفت د اودسهٔ کښې. او اجماع کړیده مسلمانانو چه واجب یو یو ځل وینځل دی. او درے واره وینځل سنت دی. او په احادیث صحیحه کښې یو یو وار او دوه دوه واره او درے درے واره راغلی دی. علماؤ ویلی دی چه دا اختلاف دلیل دے د جواز او درے خله کمال دے. او یو ځل کافی دے. او په دے محمول دے اختلاف د احادیثو. او راویانو چه کوم اختلاف کړے دے د یو صحابی نه نو دا محمول دے په دے باندے چه بعضو یاد ساتلے دے. او د بعضو هیر شوے دے. بیا چه چا زیات بیان کړے دے هغه به قبول وی. ځکه چه زیاتوالے د ثقه مقبول دے. او اختلاف کړے دے علماؤ د سر په مسح کښې نو د امام شافعی په نز مسح هم درے خله کول مستحب دی لکه څنګه چه د باقی اندامونو درے درے واره وینځل دی. او د امام ابوحنیفه او مالک او احمد رحمهم الله او د اکثرو عالمانو په نز د سر مسح یو ځل سنت ده. او د یو ځل نه زیات کول نهٔ دی پکار. او په احادیثو کښې یو ځل مسح منقول ده. او د امام شافعی دلیل هغه حدیث دے د عثمان چه هغه وړاندے راځی. چه حضرت ﷺ اودس اوکړو دری درے خله او قیاس کړے دے هغوی سر لره په نورو اندامونو. او په کوم حدیث کښې چه یو ځل منقول دے. د هغے جواب ئے ورکړے دے چه یو ځل مسه کول د جواز په واسطه ده. او همیشه رسول الله ﷺ هغه کړے ده. چه کومه غوره وه. او اجماع کړے ده علماؤ د مخ او دوارو لاسونو او د خپو د وینځلو په وجوب باندے. لیکن روافضو د خپو مسح لره واجب کړے ده. او دا د هغوی خطا ده. د څهٔ وجے نه چه تول نصوص متفق دی د خپو په وینځلو. او چا چه د رسول الله ﷺ اودس نقل کړے دے هغه د خپو وینځل روایت کړی دی. په دے شان سره اجماع کړے ده علماؤ چه د سر مسح واجب ده. لیکن اختلاف کړے دی د هغے په مقدار کښې امام شافعی. او د یو جماعت په نز د تول سر مسح واجب ده. او د امام ابوحنیفه په نز د څلورمے حصے د سر مسح واجب ده. او د غرغرے او په پوزه کښې د اوبو اچولو په وجوب کښې څلور مذهبونه دی. یو خو مذهب د امام مالک او شافعی رحمهما الله دے. چه دا دواړه سنت دی. په اودس او په غسل کښې. او د سلفو نه حسن بصری او زهری او حاکم او قتاده او ربیعه او یحیٰی بن سعید انصاری او اوزاعی او لیث بن سعد رحمهم الله په دے طرف تلی دی. او د عطاء او احمد رحمهما الله نه هم یو روایت داسے دے. دویم مذهب دادے چه دواړه واجب دی په اودس او په غسل دواړو کښې. او اودس او غسل بغیر ددے نه نه صحیح کیږی. او دا مشهور دے د احمد بن حنبل نه او دا مذهب

دے د ابن ابی لیلی او حماد او اسحاق بن راهویه رحمهم الله. او یو روایت دے د عطاء نه. دریم مذهب داد ے چه دواړه په غسل کښې واجب دی. او په اوداسهٔ کښې واجب نهٔ دی. او دا قول دے د ابوحنیفهؒ او د هغهٔ د ملګرو . او سفیان ثوریؒ څلورم مذهب داد ے چه په پوزه کښې اوبهٔ اچول په اوداسهٔ او غسل دواړو کښې واجب دی. او غرغره کول په دواړو کښې سنت دی. او دغه قول دے د ابوثور او ابوعبیده رحمهما الله او د داؤد ظاهري او د ابوبکر بن منذر او یو روایت دے د احمد نه. او اتفاق کړے دے جمهورو علماؤ په دے باندے چه په اوداسهٔ او غسل دواړو کښې اوبهٔ بیول په انداموتو کافي دی. او مږل ئے ضروري نهٔ دی. او مالکؒ او مزنيؒ مږل شرط کړی دی. دغه شان جمهورو علماؤ اتفاق کړے دے چه د ګټو او خنګلو وینځل واجب دی. او د زفر او داؤد ظاهري رحمهما الله په تړ واجب نهٔ دی. او علماؤ پرے اتفاق کړے دے. د ګټو نه مراد هغه دوه اوچت هډوکی دی چه د پنډئ او د خپو په مینځ کښې دی. او په یوه خپه کښې دوه ګټے وی. او رافضیانو یو نا اشنا خبره کړے ده. چه په هره خپه کښې یوه ګټے ده. او ګټے هغه هډوکے دے چه هغه د خپے په مینځ کښې دے. په کوم ځائے باندے چه دپیزار تسمه راځي. او د امام محمدؒ نه هم دا منقول دے. خو صحیح نهٔ دے. او خلاف دے د لغتو. او د دے حدیث نه هم دا خبره وتلے ده چه په هره یوه خپه کښې دوه ګټے وی یعنې دوه کچې دی. او دلائل د هغے ډیر دی او ما دے تولو د لائلو لره په تفصیل سره په شرح مهذب کښې بیان کړی دی. او د تولو مذاهبو اختلاف لره او د هغے وجوه لره مے مفصل ذکر کړی دی. او دلته خما مقصد دا و چه د حدیثو سره متعلق امورو لره بیان کړم. زمونږ اصحابو ویلی دی چه کهٔ چرے د یو سړی دوه څولے وی نو د دوو وینځل واجب دی. کهٔ چرے درے لاسه یا درے خپے ئے وی. او تولے برابر وی. نو د تولو وینځل به واجب وی. او کهٔ چرے زیاتي لاس ناقص وی. لیکن د فرضو په ځائے وی. یعنې د خنګلے نه لاس طرفته نو د هغے وینځل پکار دی. او کوم چه د خنګلے نه پورته وی نو د هغے وینځل فرض نهٔ دی. او کهٔ چرے د چا لاس د خنګلے سره یو ځائے کټ شوے وی نو اوس د باقي لاس وینځل فرض نهٔ دی لیکن مستحب دی چه هغه باقي لاس لره اووینځي. د دے دپاره چه اندام د طهارت نه خالي پاتے نهٔ شي (نووي رحمه الله).

نووي رحمه الله ویلی دی مراد د هغه ګناهونو نه صغیره ګناهونه دی نهٔ کبیره. او د دے حدیث نه دا خبره ویستلے کیږی چه د هر اودس نه پس دوه رکعته مونځ کول مستحب دی. او دا سنت مؤکده دے. زمونږ د ملګرو نه یو جماعت ویلی دی چه دا دوه رکعتونه هر وخت کولے شي. یعنې په هغه وختونو کښې هم چه په هغے کښې مونځ کول منع دی. او حدیث د بلالؓ د دے دلیل دے. چه په صحیح بخاري کښې دے. چه هغه به کله اودس کولو نو مونځ به ئے کول او ویل به ئے چه په تولو عملونو کښې د دے عمل زیات امید دے. او کهٔ چرے د اودس نه پس فرض یا بل څهٔ نفل اوکړی . نو هم به ورته دا فضیلت حاصلیږی. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه په مینځ کښې ئے په څهٔ بل څهٔ خیال کښې غرق نهٔ شي ، د هغے مطلب داد ے. چه ددنیا په خیال کښې اونهٔ نښلي چه هغه د مانځهٔ سره علاقه نهٔ لری کهٔ چرے د څهٔ قسم خیال په زړهٔ کښې تیر شي او په هغه وخت هغهٔ خیال لره ختم کړی. او په هغے کښې غرق نهٔ شي نو معاف دے او کهٔ خدائے غواړی نو دا فضیلت ورته حاصلیدے شي. ولے چه په دے کښې ددهٔ اختیار نشته. دویمه دا چه الله تعالی دے امت لره د هغه قسم خیالاتو نه چه کوم په زړهٔ کښې تیریږی معاف کړی دی. او د دے بیان وړاندے په کتاب الایمان کښې تیر شوے دے. یعنې په دے حدیث کښې چه کوم د اودسهٔ ذکر دے. دا کامل اودس دے . اوس د دے نه زیاتول او د درے ځل نه زیات انیځل مکروهه دی هر کله چه په هر یو وار کښې تول اندامونه وینځلے شي. کهٔ چرے په دوه واره کښې تول اندامونه وینځلے شي نو هغه به یو ځل ګنړلے شي. کهٔ چرے چاته شک راغے چه دوه ځلے واینځلے شو یا درے ځلے نو دوه ځله به ګنړلے کیږی. او یو ځل به ئے نور وینځي دغه صحیح دے. او جوینيؒ ویلی دی. چه درے ځله به ګنړلے شي. ځکه چه دوه ځله پوره دی. او په څلورم وار بدعت دے. او بعضو د دے حدیث نه دلیل راوړے دے د خنګلو او د ګټو نه د زیات وینځلو په کراهت باندے. حالانکه زمونږ په تړ باندے دا غوره دے. او د ابن شهابؒ د قول نه د دے مکروهه والے نهٔ دے وتلے (نووي)

عَنْ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ دَعَا بِإِنَاءٍ فَأَفْرَغَ عَلَى كَفَّيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الْإِنَاءِ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هٰذَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

د حمران نه روایت دے چه مولی (ازاد غلام) وو د عثمان بن عفانؓ. هغوی اولیدهٔ حضرت عثمانؓ لره چه هغوی یو لوښے د اوبو رااوغوښتو. او په خپلو دوارو لاسونو به ئې درے خله اوبهٔ واچولے او هغه ئې اووینځل. بیائې ښے لاس په لوښی کښې دننه کړو او خلے ته ئې اوبهٔ واچولے او په پوزه کښې ئې اوبهٔ واچولے بیا ئې مخ درے خله اووینځلو. او دوارو خپو لره ئې درے خله اووینځلے. بیائې اووے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. چه کوم بنده خما ددے اودس په شان اودس اوکړو . او د هغے نه وروستو ئې دوه رکعته مونځ اوکړو. او زړهٔ ئې په نور خیال کښې او نهٔ لګوو نو د هغهٔ ورمبی ګناهونه بخلے کیږی[1].

بَابُ فَضْلِ الْوُضُوءِ وَالصَّلَاةِ عَقِبَهُ

باب: د اوداسهٔ او د هغے نه پس د مونځ کولو فضیلت

عَنْ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ وَهُوَ بِفِنَاءِ الْمَسْجِدِ فَجَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ عِنْدَ الْعَصْرِ فَدَعَا بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ قَالَ وَاللهِ لَأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا لَوْلَا آيَةٌ فِي كِتَابِ اللهِ مَا حَدَّثْتُكُمْ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ فَيُصَلِّي صَلَاةً إِلَّا غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ

د حمران نه روایت دے چه مولی وو د عثمان بن عفانؓ. هغوی ویلی دی ما اوریدلی دی د عثمان ابن عفانؓ نه چه هغه د جماعت په مخکښې وو. په دے کښې هغهٔ ته مؤذن راغے. د مازیګر د مانځهٔ په وخت هغوی د اودس اوبهٔ اوغوښتلے او اودس ئې اوکړو. بیائې اووے قسم م دوی په الله باندے زهٔ تاسو ته یو حدیث بیانوم. کهٔ چرے د الله په کتاب کښې یو ایت نه وے. نو ما تاسو ته نهٔ بیانو. ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی. چه فرمائیلی وو. کوم بنده چه په ښهٔ شان سره اودس اوکړی او بیا مونځ اوکړی نو د هغهٔ هغه ګناهونه

---

[1] : نوویؒ ویلی دی ددے حدیث نه دا خبره وتلے ده. چه د خلے د کنګالولو او پوزے ته د اچولو دپاره په ښی لاس کښې اوبهٔ اخستل پکار دی. او دا هم دلیل راوړی ددے حدیث نه چه د خلے او پوزے دپاره به په دغه یو چونګ کښې اوبهٔ اخلی. او دا یو شان دی د دغه پنځهٔ قسمونو نه . چه هغے لره مونږ بره بیان کړی دی. دغه شان دا دلیل هم کوی چه دوارو منګلو لره په لوښی کښې د منډلو نه وړاندے وینځل پکار دی. اګر کهٔ د خوب نه بیدار شوے نهٔ وی. هر کله چه د لاسونو د نجاست ګمان وی. او زمونږ مذهب دغه دے. (انتهی)

الصَّلَاةِ الَّتِي تَلِيهَا

عَنْ حُمْرَانَ أَنَّهُ قَالَ فَلَمَّا تَوَضَّأَ عُثْمَانُ قَالَ وَاللَّهِ لَأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا وَاللَّهِ لَوْلَا آيَةٌ فِي كِتَابِ اللَّهِ مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ ثُمَّ يُصَلِّي الصَّلَاةَ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلَاةِ الَّتِي تَلِيهَا قَالَ عُرْوَةُ الْآيَةَ إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى إِلَى قَوْلِهِ اللَّاعِنُونَ

عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ عُثْمَانَ فَدَعَا بِطَهُورٍ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا إِلَّا

اوبخښلے شی. کوم چه د هغه مانځهٔ نه د بل مانځهٔ پورے وی[1]

د حمران نه روایت دے. هر کله چه حضرت عثمانؓ اودس اوکړلو. نو هغوی اوے. چه قسم دے په الله باندے زهٔ تاسو ته یو حدیث بیانوم کهٔ چرے د الله په کتاب کښ دا آیت نهٔ وے نو ما به دا حدیث تاسو ته نهٔ وو بیان کړے. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی هغهٔ فرمایلی وو. کوم سړے چه په ښهٔ شان سره اودس اوکړی او بیا مونځ اوکړی. نو ددهٔ هغه گناه اوبخلے شی کوم چه د هغه مانځهٔ نه پس د دویم مانځهٔ پورے وی. عروه ویلی دی هغه آیت دا دے: إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى إِلَى قَوْلِهِ اللَّاعِنُونَ

د عمرو بن سعید بن عاصؓ نه روایت دے زهٔ د حضرت عثمانؓ سره ناست وم. هغوی د اودس اوبهٔ اوغوښتلے. بیا ئے اووے ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغهٔ فرمائیلی وو. چه څوک مسلمان د فرض مونځ وخت اومومی او بیا په ښهٔ طریقه سره اودس اوکړی او د زړهٔ د اخلاصه مونځ اوکړی. او په ښهٔ شان له رکوع (او سجده) اوکړی نو

[1] هغه آیت دا دے. اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَا اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتٰبِ اُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ یعنی کوم خلق چه پټوی هغه خبرولره چه ښغه ښکاره دی. او د هدایت خبرے ورستو د هغے نه چه مونږ بیان کړی دی د هغه خلقو دپاره په کتاب کښ. الله پاک په هغوی باندے لعنت کوی. او لعنت کوی په هغوی باندے لعنت کونکی. نو د حضرت عثمان رضی الله مطلب دا دے چه د الله تعالی د علم د خبرے ښودل او د هغے رسول نهٔ وے واجب نو ماته د څهٔ حدیث د بیانولو حرص نشته چه زهٔ خامخا تاسو ته دا بیان کړم اگر چه دا د اهل کتابو په شان کښ دے. مگر څوک چه د هغو غوندے کار کوی او د دین خبرے لره د ضرورت په وخت پټوی دهغه په شان کښ دا وعید کیدے شی. او یو حدیث مشهور هم موجود دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کوم سړی د علم خبره پټوی الله تعالی هغهٔ ته د اُور واگے غورخوی او په ښهٔ شان سره اودس کول یعنی پوره د هغے د شرائطو او آدابو سره ددے حدیث نه معلومه شوه چه د اودس آداب او شرائط ایزده کول او په هغے باندے عمل کول د احتیاط سره مستحب دی او پکا رده چه سړے په هغه شان سره اودس اوکړی چه د ټولو امامانو په نزد صحیح وی. او د اختلافاتو په خصلتونو باندے عمل او نهٔ کړی ددے دپاره ضروری چه بسم الله په شروع کښ اولولی. او نیت اوکړی په پوزه کښ اُوبهٔ واچوی او سونږنے کړی. په ټول سر باندے مسح اوکړی. اندامونه اومړی پرله پسے اودس اوکړی (یعنی د یو اندام د وینځلو نه پس دومره نهٔ حصاریږی چه هغه وُچ شی) د ترتیب خیال به ساتی. دغه شان به ټولو اختلافی خبرو لره پیش نظر ساتی. او داسے اودس به کوی چه بالاجماع طهارت وی نووی)

كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ

دغه مونځ به ددهٔ د وړو غټو ګناهونو کفاره کیدے شی د کومے پورے چه کبیره ګناه نهٔ کوی. او همیشه دغه شان (عمل) کوی [1]

عَنْ حُمْرَانَ مَوْلٰى عُثْمَانَ قَالَ أَتَيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ قَالَ إِنَّ نَاسًا يَتَحَدَّثُونَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَادِيثَ لَا أَدْرِي مَا هِيَ إِلَّا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ تَوَضَّأَ مِثْلَ وُضُوئِي هٰذَا ثُمَّ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ هٰكَذَا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَكَانَتْ صَلَاتُهُ وَمَشْيُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ نَافِلَةً وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبْدَةَ أَتَيْتُ عُثْمَانَ فَتَوَضَّأَ

د حمران نه روایت دے چه مولی وو د عثما بن عفان هغوی ونیلی دی. ما عثمان بن عفان له د اودس اوبهٔ راوړلے. هغوی اودس اوکړو. بیائے اووے چه بعضے خلق د رسول الله ﷺ نه داسے حدیثو نه نقل کوی چه په هغے باندے زهٔ پوهه نهٔ یم خو ما رسول الله ﷺ لره لیدلے دے چه هغه اودس اوکړو په دے شان لکه څنګه چه ما اوکړو. بیائے اوفرمائیل. کوم سړے چه په دے شان اودس اوکړی د هغهٔ وړمبی ګناهونه اوبخلے شی او هغهٔ لره به د مانځهٔ او جماعت د تلو څائله ثواب ملاویږی. د ابن عبده په روایت کښې داسے دی چه حمران وائی زهٔ د عثمان خواله راغلم هغوی اودس اوکړو. (یعنی د ابو د راوړو ذکر نشته)

عَنْ أَبِي أَنَسٍ أَنَّ عُثْمَانَ تَوَضَّأَ بِالْمَقَاعِدِ فَقَالَ أَلَا أُرِيكُمْ وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا وَزَادَ قُتَيْبَةُ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ سُفْيَانُ قَالَ أَبُو النَّضْرِ عَنْ أَبِي أَنَسٍ قَالَ وَعِنْدَهُ رِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو انس (مالک بن ابی عامر اصبحی مدنی چه نیکهٔ د امام مالک دے) نه روایت دے. چه حضرت عثمان اودس اوکړو په مقاعد کښې بیائے اووے ولے زهٔ تاسو ته اوښایم د رسول الله ﷺ اودس کول؟ بیائے اودس اوکړو درے درے څله. د قتیبه په روایت کښې دومره سوا دی چه کوم وخت حضرت عثمان دا حدیث بیان کړو. هغه وخت د هغهٔ سره د رسول الله ﷺ څو صحابه موجود وو [2].

---

[1] یعنی د هغه مانځهٔ او اودس په وجه سره صغیره ګناهونه ټول معاف کیدلے کیږی. او کبیره ګناهونه نهٔ معاف کیږی. مطلب دا نهٔ دے چه صغیره هم هغه وخت معاف کولے شی د کومے پورے چه کبیره ګناه نهٔ کوی. اګر چه د حدیث نه دا احتمال کیږی. مګر سیاق حدیث ددے احتمال انکار کوی. قاضی عیاضی ویلی دی دا چه کوم په دے حدیث کښې د صغائرو معاف کیدل مذکور دی. د اهل سنتو دغه مذهب دے. او کبائر په توبه سره معاف کیږی. یا د الله تعالی په فضل او رحمت سره (نووی)

[2] مقاعد بهٔ هغه دکانونو ته ویل چه د حضرت عثمان رضی الله د کور په خوا کښې وو. او بعضو ویلی دی. مقاعد زینه اندرپانے ته ویلے کیږی. او بعضو ویلی دی هغه مقام ته کوم چه هغوی د کاروبار دپاره د کیناستو ګرخولے وو. نووی رحمه الله ویلی دی دا حدیث اصل عظیم دے ددے مسئلے چه په اوداسهٔ کښې هر یو کار درے درے څله کول پکار دی. او پورته بیان کړے شو چه درے څله په ځائے راوړل سنت دی په اجماع سره. او واجب یو ځل دی. او د امام شافعی رحمه الله استدلال ددغے حدیث نه دے. چه د سر مسح هم

عَنْ حُمْرَانَ بْنَ أَبَانَ قَالَ كُنْتُ أَضَعُ لِعُثْمَانَ طَهُورَهُ فَمَا أَتَى عَلَيْهِ يَوْمٌ إِلاَّ وَهُوَ يُفِيضُ عَلَيْهِ نُطْفَةً وَقَالَ عُثْمَانُ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ انْصِرَافِنَا مِنْ صَلاَتِنَا هٰذِهِ قَالَ مِسْعَرٌ أُرَاهَا الْعَصْرَ فَقَالَ مَا أَدْرِي أُحَدِّثُكُمْ بِشَيْءٍ أَوْ أَسْكُتُ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ كَانَ خَيْرًا فَحَدِّثْنَا وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذٰلِكَ فَاللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَطَهَّرُ فَيُتِمُّ الطُّهُورَ الَّذِي كَتَبَ اللهُ عَلَيْهِ فَيُصَلِّي هٰذِهِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ إِلاَّ كَانَتْ كَفَّارَاتٍ لِمَا بَيْنَهُنَّ

د حمران بن ابان نه روایت دے ما به د حضرت عثمانؓ دپاره د طهارت اوبۀ ساتلے. هغه به هره ورځ په لږو شان اوبو سره غسل کولو (یعنی غسل به ئے کوو په واسطه د تکمیل طهارت او د ثواب د زیات والی) حضرت عثمانؓ اووے رسول الله ﷺ مونږ ته حدیث بیان کړو. هر کله چه مونږ دد دے مانځۀ نه اوزګار شو. مسعر وائی (کوم چه دد دے حدیث راوی دے) ځما خیال دے چه هغه د مازیګر مونځ وو. هغه اوفرمایل زۀ نۀ پوهیږم چه تاسو ته حدیث بیان کړم یا چُپ پاتے شم مونږه اووے یا رسول الله کۀ چرے د بهترئ خبره وی نو بیان کړه. او کومه چه غوره نۀوی نو الله او د هغۀ رسول ښۀ پوهه دے. هغۀ اوفرمایل کوم مسلمان ښۀ پوهه دے. هغه اوفرمایل. کوم مسلمان چه طهارت اوکړی بیا پوره طهارت اوکړی. کوم لره چه الله تعالی فرض کړے دے. او پنځۀ مونځونو لره اوکړی. هغۀ ته به هغه ګناهونه معاف کیږی کوم چه د هغۀ مونځونو په مینځ کښ دی[1].

عَنْ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ حُمْرَانَ

د جامع بن شداد نه روایت دے هغوی وائی ما د حمران بن ابان نه

درے خله سنت ده. لکه د نورو اندامونو وینځل. او په دے باب کښ ډیر دغه شان حدیثو نه راغلی دی. چه د هغے صحت او ضعف لره ما په شرح مهذب کښ بیان کړی دی. او هغوی (یعنی صحابو) دے حدیث لره تسلیم کړے دے. چا تر نه انکار نۀ دے کړے. د بیهقی په روایت کښ دی. چه حضرت عثمان رضی الله عنه درے درے خله اودس اوکړو. بیائے د رسول الله ﷺ صحابو ته اوفرمائیل ولے تاسو رسول الله ﷺ لره په داسے کولو لیدلے دے. هغوی اووے. آو (نووی رحمه الله)

[1] یعنی معلومه نۀ ده چه دد حدیث بیانول مصلحت دے یا نۀ بیانول. بیا هغۀ ته معلومه شوه چه بیانول مصلحت دے. خکه چه هغوی بیان اوکړو چه هغوی ته رغبت پیدا شی په پاکوالی کښ او د عباداتو په ټولو قسمونو کښ. او مخکښ هغه په بیانولو کښ تامل اوکړو. دد ے خیال نه چه خلق په دے باندے تکیه اونۀ کړی. ورستو ئے بیانول مناسب اوګنړل (نووی رحمه الله).

د بهترئ د خبرئ نه دا مراد دے. چه زمونږ د خوشحالئ خبره وی. چه په هغے سره مونږ ته رغبت پیدا شی په ښۀ عملونو کولو کښ یا مو یره پیدا شی د ګناه نه او کوم چه دد ے قسم حدیث نۀ وی نو په هغے باندے الله او د هغۀ رسول الله ښۀ پوهه دی. یعنی تۀ په خپل رائے باندے عمل اوکړه کچرے تۀ ئے مناسب ګنړے نو مونږ ته ئے بیان کړه. ګنی نو خیر (نووی رحمه الله)

دد ے حدیث نه معلومه شوه چه کۀ چرے په طهارت کښ صرف فرضو لره ادا کړی او سنتو او مستحباتو لره پرېږدی نو هم به ورته دا فضیلت حاصلیدے شی یعنی د ګناهونو مغفرت. اګرچه د سنتو په ادا کولو سره نور زیات ګناهونه معاف کیږی او ثوابونه زیاتیږی (نووی رحمه الله).

بْنَ أَبَانَ يُحَدِّثُ أَبَا بُرْدَةَ فِي هٰذَا الْمَسْجِدِ فِي إِمَارَةِ بِشْرٍ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَمَّ الْوُضُوءَ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ تَعَالَى فَالصَّلَوَاتُ الْمَكْتُوبَاتُ كَفَّارَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ هٰذَا حَدِيثُ ابْنِ مُعَاذٍ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ غُنْدَرٍ فِي إِمَارَةِ بِشْرٍ وَلَا ذِكْرُ الْمَكْتُوبَاتِ

اوریدلی دی هغهٔ حدیث بیانولو د ابو برده نه په دے جماعت کښې د بشر په حکومت کښې (یعنی د هغهٔ د حکومت په زمانه کښې) چه عثمان بن عفان ؓ وائی چه فرمایلی دی رسول الله ﷺ کوم سړے چه پوره اودس لره په شهٔ شان چه الله تعالی حکم کړے وی نو د هغهٔ فرض مونځونه به کفاره وی د هغه ګناهونو کوم چه د هغې په مینځ کښې کوی. دا روایت دے د ابن معاذ ؓ او د غندر په روایت کښې دا عبارت نشته (د بشر په امارت کښې) نهٔ د فرضو مونځونو بیان دے.

عَنْ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ قَالَ تَوَضَّأَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ يَوْمًا وُضُوءًا حَسَنًا ثُمَّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ هٰكَذَا ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يَنْهَزُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ غُفِرَ لَهُ مَا خَلَا مِنْ ذَنْبِهِ

د حمران نه روایت دے چه مولی وو د عثمان بن عفان ؓ هغهٔ یوه ورځ په ښهٔ شان سره اودس اوکړو. بیائے اووے ما رسول الله ﷺ لره لیدلے دے. هغه په ښهٔ شان اودس اوکړو د هغې نه پس ئے اوفرمائیل! چه کوم سړے په دے شان سره اودس اوکړی. ورستو د هغې نه جماعت ته لاړ شی لیکن خاص د مانځهٔ دپاره پاڅی (یعنی د بل څهٔ کار نیت نهٔ وی بلکه خالص د مانځهٔ په اراده پور ته شی) نو د هغهٔ ورمبی ګناهونه اوبخښلے شی.

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ فَصَلَّاهَا مَعَ النَّاسِ أَوْ مَعَ الْجَمَاعَةِ أَوْ فِي الْمَسْجِدِ غَفَرَ اللهُ لَهُ ذُنُوبَهُ

د حضرت عثمان بن عفان ؓ نه روایت دے. هغوی وائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو. کوم بنده چه د مانځهٔ دپاره پوره اودس اوکړی بیا د فرض مانځهٔ دپاره (جماعت ته) روان شی او د خلقو سره یا د جماعت سره یا په جماعت کښې مونځ اوکړی. نو الله د هغهٔ ټول ګناهونه اوبخښی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصَّلَاةُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ مَا لَمْ تُغْشَ الْكَبَائِرُ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمایلی دی پنځهٔ مونځونه او جمعه د جمعې پورے کفاره دی د هغه ګناهونو چه هغه د دے په مینځ کښې وی په شرط د دے چه د کبیره ګناهونو نه بچ شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمائيلي وو. چه پنځه مونځونه او جمعه د جمعې پورے او رمضان د رمضان پورې كفاره كيږي د هغه ګناهونو كوم چه د هغې په مينځ كښې وي په شرط د دے چه د كبيره ګناهونو نه بچ شي.

بَابُ الذِّكْرِ الْمُسْتَحَبِّ عَقِبَ الْوُضُوْءِ

باب: د اودس نه پس ځه ويل پكار دي

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ كَانَتْ عَلَيْنَا رِعَايَةُ الْإِبِلِ فَجَاءَتْ نَوْبَتِي فَرَوَّحْتُهَا بِعَشِيٍّ فَأَدْرَكْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا يُحَدِّثُ النَّاسَ فَأَدْرَكْتُ مِنْ قَوْلِهِ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوْءَهُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ قَالَ فَقُلْتُ مَا أَجْوَدَ هٰذِهِ فَإِذَا قَائِلٌ بَيْنَ يَدَيَّ يَقُوْلُ الَّتِي قَبْلَهَا أَجْوَدُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا عُمَرُ قَالَ إِنِّي قَدْ رَأَيْتُكَ جِئْتَ آنِفًا قَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ أَوْ فَيُسْبِغُ الْوَضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ

د عقبه بن عامرؓ نه روايت دے. زمونږ د خلقو د اوښانو د څرولو كار وو خما وار چه راغلے نو ما اوښانو لره او څرول مابنام له مے د هغوی د پاتے كيدو ځائے ته راوستل. نو ما اوليدو چه رسول اللهﷺ ولاړ دے خلقو ته وعظ كوی. هغهٔ اوفرمائيل: چه كوم مسلمان په ښهٔ شا سره اودس اوكړی بيا په ولاړے دوه ركعته مونځ اوكړی د خپل زړهٔ او خلے د تصديق سره. (يعنی د ظاره او باطن په توجه سره نهٔ په زړهٔ كښ څهٔ د دنيا خيال راولی نهٔ مخ اخواديخوا واړه وی) د هغهٔ دپاره جنت واجبيږی. ما اووے څهٔ ښكلے خبره ئے اوفرمايله (چه د هغے ثواب دومره قدرے لوئے دے. او محنت ئے ډير كم دے) يو سړے خما مخے ته وو. هغهٔ اووے ورمبئ خبره ددے نه هم ښكلے وه. ما چه ورته اوكتل نو هغه عمرؓ وو. هغوی اووے زهٔ پوهه شوم چه تهٔ اوس راغلے. هغهٔ اوفرمائيل چه څوك ستاسو نه اودس اوكړی په ښهٔ شان سره پوره اودس او بيا اووائی. أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ يعنی ګواهی وركوم چه نشته دے لائق د عبادت بل څوك سوا د الله نه او محمدﷺ د هغهٔ بنده او رسول دے. نو كهولاؤ كړيشی هغهٔ ته د جنت اتهٔ دروازے په كومه سره چه غواړی (جنت ته) تلے شی[1]

---

[1] د اودس نه پس په اتفاق د علماؤ دا كلمه لوستل مستحب دی. او د ترمذی په روايت كښ ددے نه پس دومره نور زيات دی اللهم اجعلنی من التوابين واجعلنی من المتطهرين او نسائی په خپل كتاب " عَمَلُ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَه " كښ روايت كړے دے (چه دا ويل

بَابُ اٰخَرُ فِي صِفَةِ الْوُضُوءِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ الْأَنْصَارِيِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ قِيلَ لَهُ تَوَضَّأْ لَنَا وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِإِنَاءٍ فَأَكْفَأَ مِنْهَا عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ فَأَقْبَلَ بِيَدَيْهِ وَأَدْبَرَ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا كَانَ وُضُوءُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب: د اودس په طريقه كښې

د عبد الله بن زيد بن عاصم انصاري رضي الله عنه نه روايت دے هغه صحابي وو هغهٔ ته خلقو اووے چه مونږ ته د رسول الله ﷺ پشان اودس كول اوښايه هغوى يو لوخے (د اُوبو) رااوغوښتو. هغې لره ئې ښكته كړو. اول ئې په دواړو لاسونو باندے اوبهٔ واچولے (دے نه معلومه شوه چه د اودس په شروع كولو كښې د دواړو لاسونو د پنجو وينځل مستحب دى په اوبو كښې د لاس د منډلو نه مخكښې) او اوئې وينځلے دواړو منګلو لره درے خله بيائے لاس په لوښي كښې دننه كړو او رااوويستو ئې او په يو چُونګ اُوبو سره ئې غرغره اوكړه او په پوزه كښې ئې واچولے. درے خله ئې دغه شان اوكړو. بيائے لاس د ننه كړو او بهر ئې رااوويستو او مخ ئې درے خله اووينځلو (د بخاري په روايت كښې دى دواړه چونګونه ئې ملاؤ كړل اوبهٔ ئې رااواخستلے او درے خله ئې مخ اووينځلو) بيائے په لوخي كښې لاس اومنډلو او بهرته ئې رااوويستو او خپل دواړه لاسه ئې د څنګلو پورے دوه دوه خله اووينځلو. بيائے لاس او منډلو په لوښي كښې او بهر ئې كړلو او په سر ئې مسح اوكړله اول ئې دواړه لاسونه د مخے نه يوړل بيا ئې د شانه راوستل. بيائے دواړه خپے وينځلے د ګټو پورے ددى نه پس ئې اووے. رسول الله ﷺ دغه شان اودس كولو[1].

مستحب دى، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت وحدك لا شريك لك أستغفرك وأتوب إليك. زمونږ ملګرو ويلى دى چه د غسل نه پس هم دا دے ويل مستحب دى (نووى رحمه الله)

[1] او په يو روايت د صحيح بخاري كښې د ابن عباس رضي الله عنه نه داسے روايت دے چه لاس ئ اومنډو يو چونګ ئے رااوخستو بيائے هغه په دويم لاس سره يو ځائے كړو او مخ ئے اووينځلو او ابن عباس رضي الله عنه ويلى دى ما رسول الله صلى الله عليه وسلم لره په دغه شان اودس كولو ليدلے وو. او په سنن ابوداؤد او بيهقي كښې د حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دے چه دواړه لاسونه به په لوښي كښې منډى او اوبهٔ به رااخلي او په مخ به ئے اچوى. نو په دى حديثونو كښې په څهٔ كښې د يو لاس منډل منقول دى. او په څهٔ كښې دواړه لاس د ننه كول او په څهٔ كښې د لاس لره د دويم لاس سره ملګرے كول. دا درے صورتونه دى ليكن صحيح او مشهور دا دے چه

عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا وَلَمْ يَقُلْ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ

د عُمر بن یحییٰ نه په دغه اسناد سره روایت دے. په هغے کښې دادی چه غرغره ئے اوکړه. او په پوزه کښې ئے اوبۀ واچولے درے خله او دائے نۀ دی ویلی چه په یو چونګ سره. او د مخے نه ئے یوړه او د شانه ئے یوړه. ورستوئے دومره زیاته کړیده . چه اول ئے د سر مسح د مخے نه شروع کړه او د څټ پورے ئے لاس رابنکودۀ. بیائے د هغه ځائے نه واپس کړل او مخے ته ئے راوړل دواړو لاسونو لره په هغه مقام باندے د کوم ځائے نه چه ئے شروع کړے وه. او دواړه خپے ئے اووینځلے [1]

دواړه لس یو ځائے کړی او أوبۀ واخلی څکه چه مخ په ښۀ شان سره اووینځلے شی. داسے ویلی دی امام شافعی او مزنی رحمهما الله زمونږ ملګری ویلی دی. چه په مخ اینځلو کښې د پورته طرفته نه شروع کول دی. نووی (رحمه الله)

نووی ویلی دی دد ے حدیث نه دا خبره اووتله. چه یو اندام لره دوه خله او بل له دری خله وینځل صحیح دی. او کیدے شی چه دا د جواز دپاره وی نووی رحمه الله ویلی دی د سر په مسح کښې دواړو لاسونو لره د مخے نه بوتلل او بیا د شا د طرفنه واپس کول دا مستحب دی په اتفاق د علماؤ څکه چه په داسے کولو سره په ټول سر لاس رابنکو دے کیږی. او زمونږ بعضے اصحابو ویلی دی. داسے کول د هغه سړی دپاره دی چه د هغۀ په سر ویخته کهلاو شوی. او کۀ چرے ویښتۀ نۀ وی یا ئے جوړا تړلی وی نو دوباره د لاسو د واپس کولو څۀ فائده نشته. او دد ے حدیث نه دا خبره وتلی ده چه د ټول سر مسحه واجب ده. څکه چه په دے کښې د کمال بیان دے. نۀ د وجوب.

په اوداسۀ او غسل کښې د اخروی ثواب نه علاوه دنیاوی فائدے هم ډیرے دی. اطباوو ویلی دی چه د انسان په بدن باندے هره ورځ ګرد غبار جمع کیږی چه د هغے په وجه سره د بدن مسامے بندے شی. دغه خیرو او ګندونو لره صفا کول د صحت د حفاظت دپاره ډیر زیات ضروری دی. شریعت محمدی داسے ښکلے قاعده تړلی ده. چه د هغے په وجه سره انسان لره په دویمه او دریمه هفته هره میاشت ضرور یو غسل کول پرے وخی. د جنابت د جمعے د حیض او نفاس غسل د اخترونو غسل بلکه هره ورځ د غسل تکلیف ووا او ضرورت هم نۀ وو. دد ے وجے نه ټول بدن د بنده په جامه سره پټ وی. اکثر مخ او دواړه لاس او خپے کولاؤ پاتے وی. نو هغے لره د صفا ساتلو دپاره ئے اودس مقرر کړے دے. اوس پنځۀ خله یا څلور خله یا دوه خله یا یو خل خو هر ورځ په اوداسۀ کښې دغے اندامونو لره وینځل وی. البته کۀ چرے خپے په موزو کښې پټے وی. نو هروار وینځل د هغے ضروری نۀ دی بلکه مقیم لره په شپه اور ورځ کښې یو خل او مسافر لره په درے شپے او ورځے کښې یو خل وینځل کافی دی. اوس د اوداسۀ په شروع کښې درے خبرے د اوبو د ازمانش دپاره مقرر دی. لاسونه د مرووندونو پورے وینځل د رنګ معلومولو دپاره . او غرغره د مزے معلومولو دپاره او په پوزه کښې اوبۀ اچول د بوئ معلومولو دپاره. دغه د اوبو درے اوصاف دی چه د هغے لیدل د طهارت دپاره ضروری دی

[1] شیعه ګانو د خپو د وینځلو په عوض د هغے مسح معمول کړے دے. حالانکه په خپو باندے چه څومره ګرد و غبار پریوځی او د پلیتئ د لګیدو احتمال وی دومره په مخ او لاسونو باندے نۀ وی. بیا خو د هغے وینځل خاص په مقتضائے عقل دے او دغه ثابت دے د احادیث صحیحه او مشهورونه. او لطف دا چه هر کله موزے په خپو وی. نو په موزو باندے مسحه کول جائز ګرځولی دی. او هر کله چه خپے ښکاره وی نو هغے لره وینځل ضروری نۀ ګڼړی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ الْمَازِنِيِّ يَذْكُرُ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَمَضْمَضَ ثُمَّ اسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا وَيَدَهُ الْيُمْنَى ثَلَاثًا وَالْأُخْرَى ثَلَاثًا وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدِهِ وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ حَتَّى أَنْقَاهُمَا

د عبدالله بن زيد بن عاصم ؓ نه روايت دے هغوی اوليدو رسول الله ﷺ لره چه هغه اودس اوكړو. بيائے غرغره اوكړه. بيائے پوزے ته اوبه واچولے. بيائے مخ وونخلو درے ځله اوښی لاس درے ځله او ګس لاس درے ځله او په سر باندے ئے مسحه اوكړه په نوو اوبو سره. نه په هغه اوبو سره چه هغه په لاسونو لګيدلی وے. او دواړه خپے ئے اووينځلے. تردے پورے چه هغه ئے صفا كړلے.

بَابُ الْإِيتَارِ فِي الْاِسْتِنْثَارِ وَالْاِسْتِجْمَارِ

باب: په پوزه كښې اوبۀ اچول دغه شان استنجاء كول طاق مرتبه غوره دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَجْمِرْ وِتْرًا وَإِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ مَاءً ثُمَّ لِيَنْتَثِرْ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. هر كله چه ستاسو نه څوک د غټ اودس ماتی ځائے صفا كوی نو په طاق لوټو سره د صفا كوی. او هر كله چه څوک ستاسو نه اودس كوی نو په پوزه كښې د اوبۀ اچوی او بيا د پوزه سونړوی [1].

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ

د همام بن منبه نه روايت دے. ابوهريره ؓ د رسول الله ﷺ نه اوريدلی او دا حديثونه ئے مونږ ته بيان كړی دی. بيا هغوی ذكر اوكړو د څو حديثونو يو د هغے نه دا هم وو. چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. هر كله چه څوک ستاسو نه اودس كوی. نو دواړو سپيږمو لره به صفا

---

[1] يعنی په درے يا پنځۀ يا اووه لوټو سره. او بعضو كښې د استنجا معنی د وينځلو دپاره دی. يعنی طاق ځله به خوشبو واخلی. ليكن صحيح دغه ده كومه چه په ترجمه كښې ذكر شوے ده او مقصود دادے چه په لوټو سره صفائی د طاق ځله وی. يعنی درے يا پنځۀ يا زيات او زمونږ مذهب دادے چه د دريو نه زيات مستحب دے او حاصل د مذهب دادے چه صفا كول واجب دی او درے پوره كول هم واجب دی. كۀ چرے په دريو سره صفائی اوشوه. نو اوس زيات اخستل واجب نۀ دی. كۀ صفائی رانغله نو نورے اخستل پكار دی بيا كۀ چرے په طاق عدد پوره شوه نو اوس به زياتے نۀ اخلی (مثلًا په پنځو صفائی راغله نو شپږمه به نۀ رااخلی) او كۀ چرے په جفت صفائی راغله لكه په څلورو يا شپږو باندے نو هغے لره طاق كول مستحب دی. او زمونږ بعضے صحابو ويلی دی چه طاق اخستل واجب دی په دليل دد حديث او د جمهورو دليل هغه حديث دے. چه هغه په سنن كښې نروی دے. چه چا طاق واخستل نو ښۀ ئے اوكړو. او كۀ چا طاق وانۀ خستے نو هم څۀ حرج نشته (نووی رحمه الله)

فَلْيَسْتَنْشِقْ بِمَنْخِرَيْهِ مِنَ الْمَاءِ ثُمَّ لِيَنْتَثِرْ

کړي په اوبو سره او بیا به پوزه سونړ کړي [1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی څوک چه اودس کوی نو پوزے ته د اوبۀ اچوی او کوم سړے چه استنجا کوی نو طاق خلے د کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيَاشِيمِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه څوک (د خوب) نه بیدار شی. نو پوزه د درے واره سونړه وی. ځکه چه شیطان د هغۀ د پوزے په هډوکو کښې وی یا په پوزه کښې [2].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُوتِرْ

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه څوک ستاسو نه استنجا کوی نو طاق عدد د کوی.

بَابُ وُجُوبِ غَسْلِ الرِّجْلَيْنِ بِكَمَالِهِمَا

باب: پوره خپے وینځل واجب دی.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ يَوْمَ تُوُفِّيَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فَدَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ فَتَوَضَّأَ عِنْدَهَا فَقَالَتْ يَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ أَسْبِغِ الْوُضُوءَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ

د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ خواله عبدالرحمٰن بن ابی بکرؓ لاړو. په کومه ورځ چه سعد بن ابی وقاصؓ انتقال اوکړو. نو هغوی اودس اوکړو. حضرت عائشےؓ اووے اے عبدالرحمٰن! اودس لره بنۀ پوره اوکړه. ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. خرابی ده پرکو ولالره د جهنم په اُور سره [3].

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی. په دے حدیث کښې دلیل دے د هغه سړی چه هغه پوزے سونړولو ته وائی

[2] قاضی عیاضؒ ویلی دی. احتمال دے چه حقیقتًا شیطان په پوزه کښې اوسیږی. ولے چه په پوزه سره زړۀ ته لاره تلے ده. او په هغے باندے څۀ پرده نشته. او په حدیث کښې دی چه شیطان پټ شوی څیز لره نۀ کهولاوه وی ځکه چه ارګمی کښې د خلے د بندولو حکم دے. ددے دپاره چه شیطان په خلۀ د ننه لاړ نۀ شی او احتمال دے چه د شیطان نه مراد مُجازاً غبار وی یا د پوزے اُوبۀ (ترله) وغیره (نووی)

[3] نووی رحمه الله ویلی دی د امام مسلمؒ غرض ددے حدیث د راوړو نه دا دے چۀ د خپو وینځل واجب دی او مسح کافی نۀ ده او په دے مسئله کښې خلقو اختلاف کړے دے. څو مذهبو نه دی. مګر کومے لره چه د فقهاؤ وو جماعت او خاوندانو د فتوی په هره زمانه او په هر ښهر کښې اختیار کړے دے. هغه دا دے چه دواړو خپو لره د ګیټو پورے وینځل واجب دی او د هغے دپاره مسح کافی نۀ ده او د وینځلو سره بیا مسح کول ضروری نۀ دی او ددے خلاف د چا معتبر سړی نه منقول نۀ دے او شیعه وائی چه د دواړو خپو

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ رَجَعْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ حَتّٰى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيقِ تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ الْعَصْرِ فَتَوَضَّئُوا وَهُمْ عِجَالٌ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ

د عبد الله بن عمروؓ نه روایت دے. چه مونږ د رسول اللهﷺ سره د مکے نه مدینے ته تلو. په لاره کښې یو ځائے او بۀ ملاؤ شوے. د مازیگر د مانځۀ وخت شوے وو. خلقو زر زر اودس اوکړو. مونږ چه د هغوی خواته اورسیدۀ نو د هغوی گټے اوچے معلومیدے. په هغې باندے اوبۀ نۀ وے لگیدلے. بیا رسول اللهﷺ اوفرمائیل. خرابی ده د پړکو په اُور سره. پوره کوه اودس لره.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ تَخَلَّفَ عَنَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ سَافَرْنَاهُ فَأَدْرَكَنَا وَقَدْ حَضَرَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ فَجَعَلْنَا نَمْسَحُ عَلٰى أَرْجُلِنَا فَنَادٰى وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ

د عبدالله بن عمروؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ زمونږ نه غائب شو په یو سفر کښې. بیا هغه اوموندو مونږ لره. او د مازیگر د مانځۀ وخت شوے وو. مونږ مسح شروع کړه په خپلو خپو باندے (حضرتﷺ) آواز اوکړو. خرابی ده گټو لره د جهنم په اُور سره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى رَجُلًا لَمْ يَغْسِلْ عَقِبَيْهِ فَقَالَ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ یو سړے اولیدو. چه هغه (په اودس کښې) خپل پړکی اینځلی نۀ وو. نو اوئې فرمایل: خرابی ده پړکو لره د جهنم په اُور سره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ رَأٰى قَوْمًا يَتَوَضَّئُوْنَ مِنَ

ابوهریرهؓ څۀ خلقو لره اولیدل چه هغوی د خاوړے په کوزه سره

مسح واجب ده. او محمد بن جریر او جبائی د معتزلو امام ویلی دی. چه اختیار دے خواه کۀ مسح کوی په دواړو خپو باندے یا وینځی هغې لره. او بعضے ظاهریو ویلی دی چه مسح او وینځل دواړه واجب دی. او دغه مخالفینو چه کوم دلائل بیان کړی دی هغه ظاهر نۀ دی. او ما د هغې تولو تفصیل په ښۀ شان سره. په شرح مهذب کښې کړے دے. کوم څوک چه هغې لره اوگوری نو څۀ شک شبه به ئې باتے نۀ شی. او دلته خو زمونږ مقصود داد ے چه د حدیث شرح بیان کړو. نۀ د مخالفینو رد او قدح. او مختصر داده چه څومره خلقو د رسول اللهﷺ اودس نقل کړے دے په مختلفو مقاماتو او مختلفو حالاتو کښې هغه تول د خپو وینځل نقل کړی دی. او دا چه کوم هغه فرمایلی دی. خرابی ده د پړکو په اُور سره. په هغې کښې دلیل دے د خپو د وینځلو گنې د دے وعید نه څۀ مطلب نۀ اوځی. او یو حدیث صحیح دے د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جدہ چه یو سړی اووے یا رسول الله! اودس څنگه کول پکار دی؟ هغۀ اوبۀ اوغوښتلے او دواړه مَنګلے ئې اووینځلے بیائے اودس اوکړو تر دے چه دواړه خپے ئې اووینځلے بیا ئې اوفرمائیل اودس داسے کول پکار دی او څوک چه د دے نه کمے زیاتے کوی هغه بد کوی. او ظلم کوی. دا حدیث صحیح دے. دے لره ابوداؤد وغیره په اسناد صحیحه سره نقل کړے دے.

الْمَطْهَرَةِ فَقَالَ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ فَإِنِّي سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَيْلٌ لِلْعَرَاقِيبِ مِنَ النَّارِ

اودس كولو نو اوئي ويل پوره كوئى اودس لره ولې چه ما اوريدلى دى د ابوالقاسم ﷺ نه هغهٔ فرمايلى وو. خرابى ده ګټو لره په انګار سره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. هلاكت دے پركو لره په أور سره.

بَاب وُجُوبِ اسْتِيعَابِ جَمِيعِ أَجْزَاءِ مَحَلِّ الطَّهَارَةِ

باب: په اوداسه كښې تولو اعضاؤ لره وجوباً د پوره وينځلو بيان

عَنْ جَابِرٍ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلًا تَوَضَّأَ فَتَرَكَ مَوْضِعَ ظُفُرٍ عَلَى قَدَمِهِ فَأَبْصَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ارْجِعْ فَأَحْسِنْ وُضُوءَكَ فَرَجَعَ ثُمَّ صَلَّى

د جابرؓ نه روايت دے چه ماته بيان كړے دے. حضرت عمرؓ چه يو سړى اودس اوكړو او د نوک برابرئے په خپلو خپو كښې اوچ پريخودو. رسول الله ﷺ هغهٔ ته اوكتل. نو اوئے فرمائيل: لاړ شه! او په ښهٔ شان اودس اوكړه راشه؛ هغه واپس شو او بيا راغے مونځ ئے اوكړو[1].

بَاب خُرُوجِ الْخَطَايَا مَعَ مَاءِ الْوُضُوءِ

باب: د اودس په اُوبو سره د ګناهونو د لرے كيدو بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ أَوْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. هر كله چه بنده مسلمان يا مؤمن (د شک دے دا راوى) اودس كوى. او مخ

---

[1]: نوويؒ ويلى دى دد ے حديث نه دا خبره وتلے كيږى. چه كهٔ چرے په اوداسهٔ كي يوه ذره مقام هم چه د هغے وينځل واجب دى اوچ پاتے شى. نو اودس به صحيح نهٔ وى. په دے باندے د تولو اتفاق دے. ليكن په تيمم كښې كهٔ چرے څهٔ حصه د مخ پريږدى. او په هغے باندے لاس رانهٔ كاږى نو په هغے كښې اختلاف دے. زمونږ او د جمهور علماؤ مذهب دا دے چه تيمم به صحيح نهٔ وى. لكه څنګه چه اودس صحيح نهٔ دے. او د ابوحنيفه نه په دے كښې درے روايتونه دى. يو خو دا چه كهٔ د نيمے نه كم پاتے شى. نو صحيح كيږى. دويم دا چه كهٔ درويى نه كم پاتے شى نو صحيح كيږى. دريمه دا چه كهٔ څلورمے حصے نه كم پاتې شى نو صحيح كيږى. دد ے حديث نه دا هم معلومه شوه كهٔ چرے يو سړے په ناپوهئ سره داسے اوكړى خو بيا هم دهغ؛ طهارت به صحيح نهٔ وى او كوم سړے چه جاهل وى هغهٔ لره په نرمئ سره پوهه كول پكاردى. او بعضے خلقو دد ے حديث نه دليل راوړے دے. چه د دواړو خپو وينځل واجب دى. او مسح كافى نهٔ ده. او قاضى عياضؒ دليل كړے دے دے حديث لره مولاؔ يعنى د پرله پسے اودس كولو په وجوب باندے. څكه چه هغه په ښهٔ شان اودس كول كړى دى او دا حكم ئے نهٔ دے وركړے چه صرف اوچ چه كوم ځائے پاتے دے هغه ځائے به اوينځى: حالانكه دا استدلال ضعيف دے يا باطل دے حكه چه په ښهٔ شان د اودس دوبو دا معنى هم كيدے شى. چه دغے اودس لره پوره كړه. (انتهى)

الْمُؤْمِنُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَ مِنْ يَدَيْهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ كَانَ بَطَشَتْهَا يَدَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَتْ كُلُّ خَطِيئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ حَتَّى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوبِ

وینځي نو د هغهٔ د مخې نه هغه ټول ګناهونه (صغیره) اوځي. کوم چه هغهٔ په سترګو کړي وي. د اوبو سره یا د اخري قطرے سره (چه هغه د مخ نه غورځیږي دا هم شک دے د راوي) بیا چه هر کله لاسونه وینځي نو د هغه د لاسونو نه هر یو ګناه کوم چه ئې په لاسو سره کړے وي د اوبو سره یا د آخري قطرے سره وتلے کیږي. بیا چه هر کله خپے وینځي. نو هر یو ګناه کوم پسے چه هغهٔ په خپو سره تلے وي. د اوبو سره یا د آخري قطرے سره وتلے کیږي. تردے پورے چه د ټولو ګناهونو نه پاک صفا رااوځي.[1]

بَاب اسْتِحْبَابِ إِطَالَةِ الْغُرَّةِ وَالتَّحْجِيلِ فِي الْوُضُوءِ

باب: مخ لره زیات وینځل دومره قدرے چه د سر مخے ته حصه هم وینځلے شي دغه شان لاسونه د څنګلو او خپو لره د ګټو نه بره وینځل مستحب دي[2]

عَنْ نُعَيْمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُجْمِرِ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَتَوَضَّأُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي الْعَضُدِ ثُمَّ يَدَهُ الْيُسْرَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي الْعَضُدِ ثُمَّ

د نعیم بن عبدالله مجمر نه روایت دے چه ما ابوهریره لره په اودس کولو اولیدو. هغوی مخ وینځلو نو هغے لره ئې پوره وینځلو. بیائے ښے لاس اووینځلو. تردے پورے چه د مټ یوه حصه ئې وینځله. بیائے ګس لاس وینځلو تردے چه د مټ څهٔ حصه ئې هم وینځله

---

[1] نووي وائی ددے حدیث نه هم رد کیږي د روافضو چه په خپو مسح کوي.

[2] نووي وائی علماؤ اختلاف کړے دے. چه مستحب د کوم ځائے پورے وینځل دي. بعضو ویلي دي چه د څنګلو او ګټو نه پورته وینځل پکار دي. څومره به زیات وي؟ د هغے څهٔ حد نشته دے. بعضو ویلي دي د نیم مټ پورې مستحب دي. دغه شان خپه د پنډۍ پورے. او بعضو ویلي دي د اوګو پورے وینځل مستحب دي. او په دے باب کښې چه کوم حدیثونه مذکور دي. هغه ددے خبرے تائید کوي او دا چه کوم امام ابو الحسن بن بطال مالکی او قاضي عیاض دعوی کړے ده. چه د څنګلے او ګټے نه زیاتول په اتفاق د عالمانو مستحب نه دي دا دعوی باطله ده او څنګه به دا دعوه صحیح شي کله چه د رسول الله ﷺ او ابوهریره نه ددے خلاف ثابت دے او زمونږ مذهب هغه دے کوم چه ددے حدیثونو نه ثابت دے. او چا چه خلاف کړے دے په هغے باندے دا حدیثونه حجت دے او دا چه کوم په یو حدیث کښې مروی دے. چه چا ددے نه زیات کړل یائے کم کړل نو هغوی بد اوکړل او ظلم ئې اوکړو مراد ددے نه په تعداد کښې زیاتول او کمول دي. (انتهی)

مَسَحَ رَأْسَهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي السَّاقِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي السَّاقِ ثُمَّ قَالَ هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتُمُ الْغُرُّ الْمُحَجَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ إِسْبَاغِ الْوُضُوءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ فَلْيُطِلْ غُرَّتَهُ وَتَحْجِيلَهُ

عَنْ نُعَيْمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ رَأَى أَبَا هُرَيْرَةَ يَتَوَضَّأُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ حَتَّى كَادَ يَبْلُغُ الْمَنْكِبَيْنِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ حَتَّى رَفَعَ إِلَى السَّاقَيْنِ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أُمَّتِي يَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ حَوْضِي أَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ لَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ الثَّلْجِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ بِاللَّبَنِ وَلَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ النُّجُومِ وَإِنِّي لَأَصُدُّ النَّاسَ عَنْهُ كَمَا يَصُدُّ الرَّجُلُ إِبِلَ النَّاسِ عَنْ حَوْضِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَتَعْرِفُنَا يَوْمَئِذٍ قَالَ نَعَمْ لَكُمْ سِيمَا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ مِنَ الْأُمَمِ تَرِدُونَ عَلَيَّ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ

بیائے د سر مسح اوکړه. بیائے ښے خپه اووینځله نو د پنډئ یوه حصه ئے ورسره هم وینځله بیائے گسه خپه اووینځله. تردے چه د پنډئ یوه حصه ئے ورسره هم اووینځله بیائے اووے ما رسول اللهﷺ لره په دغه شان اودس کولو لیدلے دے. اوفرمائیلی دی رسول اللهﷺ ستاسو تندی اولاسونه او خپے به سپینے (نورانی) وی د قیامت په ورځ د پوره اودس کولو په وجه سره بیا څوک ستاسو نه خپلو لاسونو لره او خپو او مخ لره وینځل زیاتوی نو زیات د کړی.

د نعیم بن عبد اللهؓ نه روایت دے. هغوی ابوهریرهؓ لره په اودس کولو اولیدو. هغه مخ اووینځلو او دواړه لاسونه ئے اووینځل تردے پوری چه د اوګو پورے اورسیدو. بیائے دواړه خپے وینځلے تردے پورے چه د پنډو پورے اورسیدو ورستو ددے نه ئے اووے. ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو. څما د امت خلق به راځی د قیامت په ورځ ځلیدونکی د اودس د نخښونه. بیا چه ستاسو نه څوک خپل مخ لره زیات وینځلے شی هغه د وینځی.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. څما حوض دومره لوئے دے. لکه د عدن نه ایله ددے نه هم زیات د هغے اوبۀ د واؤرے نه زیاتے سپینے او د شهدو او د پیو نه زیاتے خوږے دی او په هغے باندے چه کوم لوښی ایخودی شوی دی. هغه په شمار کښ دستورو نه زیات دی او زۀ منع کوم خلقو لره د هغه حوض نه لکه چه څوک د بل چا اوښانو لره د خپل حوض نه منع کوی. صحابه کرامو اووے یا رسول اللهﷺ تۀ به مونږ پیژنے په هغه ورځ. هغوی اوفرمائیل. آو. ستاسو نخښنه به داسے وی چه هغه به سوا ستاسو نه د یو امت دپاره نۀ وی. تاسو به راځئ څمامخے ته سپین لاسونه او خپے. د اودس په وجه

أَصْحَابِي فَيُجِيبُنِي مَلَكٌ فَيَقُولُ وَهَلْ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ حَوْضِي لَأَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَذُودُ عَنْهُ الرِّجَالَ كَمَا يَذُودُ الرَّجُلُ الْإِبِلَ الْغَرِيبَةَ عَنْ حَوْضِهِ قَالُوا يَا

فرښته ماله جواب راکړي ولې ته نه پيژنې؟ چه دے خلقو ستا نه ورستو په دنيا کښې نوی نوی کارونه کول[1].

د حذيفةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي خما حوض دومره لوئې دے لکه د عدن نه ايله (يو ښهر دے د مصر او د شام په مينځ کښې) قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه خما روح دے. زۀ به خلقو لره د هغه خائې نه لرے کوم. لکه چه يو د بل اوښانو لره د خپل حوض نه شړي خلقو اووے. يا رسول الله! ته به

[1] نوویؒ ويلي دي يو جماعت استدلال کړے دے ددے حديث نه چه اودس خاص دے ددے امت سره. او بعضو ويلي دي چه اودس ددے امت سره خاص نه دے. خو دا فضيلت يعني تندے اولاسونه نوراني کيدل به خاص وي د قيامت په ورځ ددے امت سره. او دليل د هغې دويم حديث دے. چه په هغې کښې دادي. چه دا خما اودس دے. او خما نه وړاندے د پيغمبرانو اودس دے. ليکن اول جماعت دوه جوابونه ورکړي دي. يو خو دادے چه دا حديث ضعيف دے او ددے ضعف مشهور دے. دويمه دا چه کۀ چرے دے حديث لره اومنلے شي. نو ددے نه دومره قدرے ثابتيږي. چه د وړاندے پيغمبرانو دپاره اودس وو. خو د مخکښني امتونو دپاره اودس نۀ ثابتيږي (انتهى).

په دويم روايت کښې دومره زياته ده. ددے په اوريدو به زۀ وايم نو بيا بيرته شئ يعني لرے شئ. نوویؒ ويلي دي علماؤ په دے مقام باندے څو خبرے ليکلي دي. اول دا چه مراد د هغه خلقو نه منافقان دي. چه د اسلام نه واپس شوي وو. نو احتمال دي چه د هغوی حشر ددغه نخښې سره. يعني د سپينو مخونو او سپينو لاسونو او خپو والا سره وي. او رسول الله ﷺ هغوی لره مسلمانان اوګڼړي په هغه وخت به هغۀ ته جواب ملاؤ شي چه دا خلق په خپل حالت باندے نۀ دي پاتے او دوی ستا نه پس دين لره بدل کړے وو. يعني په اسلام باندے ددوی خاتمه نۀ ده شوے. دويمه دا چه مراد د هغه خلقو نه هغه خلق دي. کوم چه د حضرت ﷺ په زمانه کښې وو. او د هغۀ په دور حيات کښې مسلمانان وو. او بيا د هغوی نه پس د اسلام نه واپس شوي وو نو رسول الله ﷺ به هغه خلقو لره اوپيژني او راغواړي به ئې. اګر چه په هغوی باندے به د اودس نخښنه نۀ وي. په دغه وخت به جواب ملاؤ شي چه دغه خلق ستاسو نه پس د اسلام نه واپس شوي وو. دريمه دا چه مراد د هغه خلقو نه ګنهګار دي. چه د هغوی د ژوند خاتمه په توحيد باندے شوي وي. خو په کبيره ګناهونو او بدعتونو کښې مبتلا وو. ليکن بدعت د کفر د درجے پورے رسيدلے نۀ وو. په دے صورت کښې دا ضروري نۀ ده چه دا خلق د خالص او ضرور جهنم ته لاړ شي. بلکه کيدے شي. چه ورومی دا سزا د دے کښې ورکولو هغوی ته ملاؤ شي بيا الله تعالى به په هغوی باندے رحم اوکړي. او هغوی جنت ته به بوځي بغير د عذاب نه. او دا هم ممکنه ده چه د هغوی مخونه اولاسونه خپے سپين نوراني وي. او احتمال دے چه دا خلق د هغۀ په زمانه کښې هم وو او د هغۀ نه پس هم وو. ليکن هغه به هغوی لره ددغه نخښو نه پيژندلے شي. امام ابن عبد البرؒ ويلي دي. کوم سړے چه په دين کښې نوے خبرے راوباسي هغه به د حوض کوثر نه شړلے کيږي لکه رافضي او خارجي او ټول ګمراه فرقې. دغه شان به هغه خلق هم شړلے کيږي. چه هغوی ظلم کړے وي او د خلقو حق ئې نيولے وي. حق لره ختموي. او ناحق لره خوروي کبيره ګناه علانيه کوي. او ددغه شان د نورو خلقو دپاره هم يره ده. چه هغه د حوض نه شړلے شي (انتهى).

رَسُوْلَ اللهِ وَتَعْرِفُنَا قَالَ نَعَمْ تَرِدُونَ عَلَيَّ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ لَيْسَتْ لِأَحَدٍ غَيْرِكُمْ

مونږ پیژنې ؟ هغهٔ اوفرمایل . آو . تاسو به خما خواله راځئ سپین تندی سپین لاسونه خپې د اودس نخښنه به وی. چه هغه به ستاسو نه سوا په بل امت باندې نهٔ وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى الْمَقْبَرَةَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ وَدِدْتُ أَنَّا قَدْ رَأَيْنَا إِخْوَانَنَا قَالُوا أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ أَنْتُمْ أَصْحَابِي وَإِخْوَانُنَا الَّذِينَ لَمْ يَأْتُوا بَعْدُ فَقَالُوا كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ أُمَّتِكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا لَهُ خَيْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ بَيْنَ ظَهْرَيْ خَيْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ أَلَا يَعْرِفُ خَيْلَهُ قَالُوا بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ فَإِنَّهُمْ يَأْتُونَ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنَ الْوُضُوءِ وَأَنَا فَرَطُهُمْ عَلَى الْحَوْضِ أَلَا لَيُذَادَنَّ رِجَالٌ عَنْ حَوْضِي كَمَا يُذَادُ الْبَعِيرُ الضَّالُّ أُنَادِيهِمْ أَلَا هَلُمَّ فَيُقَالُ إِنَّهُمْ قَدْ بَدَّلُوا بَعْدَكَ فَأَقُولُ سُحْقًا سُحْقًا

د ابوهریرهٔ نه روایت دے رسول الله ﷺ په قبرستان کښ تشریف راورو. نو اوئې فرمائیل اسلام دے پتاسو باندے. دا کور دے د مسلمانانو او مونږ کهٔ خدائې غواړی نو ستاسو سره ملاویدونکی یو. خما آرزو ده چه زهٔ د خپلو رونړو لره اووینم (دد ے حدیث نه معلومه شوه. چه د نیکې خبرے آرزو کول صحیح دی لکه د علماؤ او فضلاؤ سره د میلاویدو) صحابو اووے یا رسول الله! ولے مونږ ستا رونړه نهٔ یو؟ هغه اوفرمائیل تاسو خما صحابه یئ او رونړه خما هغه خلق دی چه هغه لا اوس دنیا ته نهٔ دی راغلی. صحابو اووے یا رسول الله! چه تا هغوی لره لیدلی نهٔ دی. هغهٔ اووے عجیبه ده! تاسو ګورئ چه د یو سړی سپینو تندو سپینو لاسو خپو والا اسونه په ترو مشکی اسونو کښ شریک شی نو هغه به خپل اسونه نهٔ پیژنی. صحابو اووے بیشکه هغه خو به پیژنی. هغهٔ اوفرمایل نو خما د امت خلق به سپین مخ او سپین لاسونه او خپې لری د قیامت په ورځ د اودس په وجه سره او زهٔ به د هغوی پیش خیمه یم په حوض کوثر باندے. خبردار شئ! بعضے خلق به خما د حوض نه واپس کولے شی. لکه چه پاګل اوښ د خان نه زغلولے کیږی. زهٔ به هغوی ته آواز اوکړم راشئ راشئ. په هغه وخت به اوویلے شی. دغه خلقو خپل خان بدل کړے وو. او کافر شوی وو. یا د هغوی حالت بدل شوے وو (په بدعت او ظلم کښ ګرفتار شوی وو) بیا

عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ كُنْتُ خَلْفَ أَبِي هُرَيْرَةَ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ فَكَانَ يَمُدُّ يَدَهُ حَتَّى تَبْلُغَ إِبْطَهُ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا

به زهٔ اووایم لرے شی.[1]
د ابو حازم نه روایت دے چه زهٔ د ابوهریره شاته وم هغه د مانځهٔ دپاره اودس کولو. نو هغهٔ خپل لاسونه وینځل اوږده کړل تردے چه د اوګې پورے ئې اووینځل ما اووے اے ابوهریره دا څنګه اودس

[1] اګر چه مرهٔ کیدل یقینی دی. په دے کښې شک نشته خو انشاء الله هغه د برکت دپاره فرمائیلی وی او د خدائے حکم په ځائے راوړلو دپاره چه هغه فرمایلی دي. تاسو څهٔ کار لره چه صبا کونکے وسئ داسے مهٔ وایئ چه زهٔ به ئې صبا اوکړم. بلکه داسے وایئ چه کهٔ چرے خدائے غواړی. او خطابی ویلی دی چه انشاء الله ئې د عادت په طور باندے اووے. د تحسین کلام دپاره. او بعضو ویلی دی انشاء الله د مرګ سره متعلق نهٔ دے. بلکه د مؤمنانو سره د میلاویدو سره یعنی کهٔ خدائے غواړی نو خاتمه زمونږ به هم په ایمان باندے وی. او مونږ به هم ستاسو سره ملاویږو په دے ځائے باندے. او بعضو د انشاء الله معنٰی څهٔ وخت چه خدائے غواړی. او بعضو نورے معانے کړی دی چه هغه معانے ضعیفے دی (نووی).

صحابو اووے. ولے مونږ ستا رونړه نهٔ یو. هغهٔ اوفرمایل تاسو خما صحابه یئ. امام باجی رحمه الله ویلی دی ددے نه غرض دا نهٔ دے چه تاسو خما رونړه نهٔ یئ. بلکه مقصود دادے چه تاسو درجه خو د خپل رور نه زیاته ده. تاسو خو صحابه کرام یئ. او رونړه هم یئ. او کوم خلق چه اوس پیدا شوی نهٔ دی. هغه صرف رونړه دی صحابه نهٔ دی. لکه چه الله تعالی فرمایلی دی مؤمنان د یو بل رونړه دی. قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی ابن عبدالبر رحمه الله ددے حدیث نه او د نورو حدیثونو نه استدلال کړے دے. په دے امر باندے چه د هغهٔ نه د ورستو زمانے خلق به هم دا فضیلت لری. تردے پورے چه بعضے د هغوی افضل دی د بعضے صحابو نه او دا چه کوم حضرت اوفرمایل بهتر ستاسو نه خما د زمانے خلق دی. نو ددے نه مراد مهاجرین او انصار دی. او هغه بیشکه افضل دی. په قول امت کښې. لیکن کوم سرے چه د حضرت په صحبت کښې پاتے شوے وی. یائے هغهٔ لره لیدلے وی. او د هغهٔ څهٔ اثر په دین کښې نهٔ وی. نو ورسته د هغهٔ د زمانے سرے د هغهٔ نه غوره کیدے شی. لکه څنګه چه د نورو حدیثو نه معلومیږی. قاضی عیاض ویلی دی سوا د عبد البرنه د نورو بعضو متکلمینو هم دغه مذهب دے. لیکن اکثر علماء ددے نه خلاف دی. او وائی چه څوک د حضرت په صحبت کښې پاتی شوے وی او یو ځل ئې هغه لیدلے وی. نو هغه ته د صحبت فضیلت ملاؤ شو. اوس د هغهٔ نه د ورستو زمانے سرے د هغهٔ برابر کیدے نهٔ شی. اګر کهٔ په زهد او تقوی کښې چه هر څومره مرتبه لری. او دلیل د هغوی دا حدیث دے. کهٔ چرے ستاسو نه څوک د اُحُد د غر برابر سره زر خرچ کړی. نو د صحابه د مد یا د نیم مد برابر کیدے نهٔ شی. ختم شو کلام د قاضی عیاض رحمه الله (نووی رحمه الله)

په هغه وخت به اوویلے شی. چه هغه خلقو خپل خانونه ستانه ورستو بدل کړی وو السراج الوهاج کښې دی. الله تعالی د تباه کړی رافضیانو لره. هغو د هغه خلقو نه صحابه کرامو لره ګنړلی دی مهاجرین او انصارو لره. حالانکه په دے حدیث کښې د رجال لفظ دے نهٔ د صحابو. او کهٔ چرے د صحابه لفظ ثابت شو بیا هم مراد هغه خلق دی. چه د هغهٔ د وفات نه پس د اسلام نه ګرځیدلی دی نهٔ تول صحابه معاذ الله. الله تعالی د هغوی په تعریف کښې فرمائی. وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا اوفرمائی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ. او فرمائی لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ. ددے نه دا اوچی چه کوم سرے د صحابو نه خفه شی او په هغوی غصه اوکړی. هغه پخپله کافر دے. لعنت د وی د الله په هغه مردود باندے چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوستانو او قربانیدونکو باندے تهمت لګوی. او هغه د اهل بیت رسالت بد خواه ګنړی. او هیره وی دهغوی خدمتونو لره چه د هغې په وجه زمونږ پورے اسلام راورسیدهٔ. او د هغوی په سعی او کوشش سره د نن ورځې پورې د دین قیام دے. رحمة الله علیهم اجمعین

هُرَيْرَةَ مَا هٰذَا الْوُضُوءُ فَقَالَ يَا بَنِي فَرُّوخَ أَنْتُمْ هَاهُنَا لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكُمْ هَاهُنَا مَا تَوَضَّأْتُ هٰذَا الْوُضُوءَ سَمِعْتُ خَلِيلِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوُضُوءُ

دے؟ ابوهریرهؓ اووے اے د فروح اولاده (فروح د ابراهیمؑ د خوئ نوم دے. چه د هغهٔ په اولاد کښې د عجمو خلق دی ابو حازم هم عجمی وو) تهٔ دلته کښې موجود وے کهٔ چرے ماته دا پته وے چه تهٔ دلته کښې موجود ئے نو ما به په دے شان سره اودس نهٔ وو کړے ما اوریدلی دی د خپل دوست نه (یعنی نبی ﷺ نه) چه فرمائیلی ئے وو. د قیامت په ورځ به مؤمن ته د هغه ځائے پورے کالی اچولے شی. د کومے پورے چه د هغهٔ اودس رسیدلے وی[1].

بَاب فَضْلِ إِسْبَاغِ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللّٰهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ

باب: د سختئ او تکلیف په حالت کښې د پوره اودس کولو څهٔ ثواب دے

ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. ولے زهٔ تاسو ته اونهٔ بنایم هغه خبرے چه په هغے سره ګناهونه ختمیږی (یعنی معاف کیږی یا د لیکلو والاد دفتر نه ورانیږی. او درجے اوچتیږی (په جنت کښې) خلقو اووے. ولے نه! یا رسول اللهؐ! اوښایئ. هغهٔ اوفرمائیل پوره کول اودس لره په سختئ او تکلیف کښې (لکه په زیاته یخنئ یا بیمارئ کښې) او ډیرول د قدمونو د جماعته پورې (په دے شان چه جماعت د کور نه لرے وی او دے ورته باربار مانځهٔ له ځی) او انتظار کول ددویم مانځهٔ د یو مانځهٔ نه پس دغه رباط دے (یعنی د نفس حصارول د عبادت دپاره. یا هغه رباط دے کوم چه په جهاد کښې کیږی چه د هغے

---

[1] ما به په دے شان سره اودس نهٔ کوو. ځکه چه تاسو خلقو ته دومره علم نشته دے. داسے نوی چه تاسو ګمراه شئ. او دا خیال اوکړئ چه د ترخونو پورے د لاسو وینځل فرض دی. قاضی عیاض ویلی دی د ابوهریره دا غرض دے. چه کوم سړے امام یعنی پیشوا وی هغهٔ لره پکار دی چه هر کله د څهٔ ضرورت نه په رخصت باندے عمل کوی یا د وسوسے دوجے نه په څهٔ امر کښې مبالغه کوی. یا شهٔ خیال لره خو د عامو خلقو په مخکښې نهٔ کوی. خصوصاً د جاهلانو. داسے نهٔ وی چه هغه بغیر د ضرورت نه د هغے په رخصت باندے عمل شروع کړی. یا هغه کار په خان لکه پشان د فرضو لازم اوګنړی. (نووی)

ذکر په قرآن شریف کښې دے ورابطوا

بَابُ السِّوَاكِ

باب د مسواک بیان[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَفِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کۀ چرے په مسلمانانو باندے شاق (یعنی گران) نۀ وے او د زهیر په روایت کښې داسے دی چه کۀ خما په امت باندے شاق کیدے نۀ نو ما به هغوی ته حکم کړے وو. د هر مانځۀ په وخت د مسواک کولو[2].

[1] امام نووی ویلی دی مسواک کول سنت دی واجب نۀ دی. د څۀ وخت نه مانځۀ دپاره نه بل د څۀ وخت دپاره او په دے باندے اتفاق دے تولو معتد به علماؤ. لیکن شیخ ابوحامد د داؤود طائی نه ددے وجوب نقل کړے دے. لیکن هغوی ویلی دی. چه مسواک دلسے واجب دے. چه د هغے په پریخودلو سره مونځ نه باطلیږی. او د اسحاق بن راهویه رحمه الله نه منقول دے. چه مسواک واجب دے. کۀ چرے قصداً دے لره پریخودے شی نو مونځ باطلیږی. او زمونږ ورستو اصحابو د شیخ ابوحامد د روایت انکار کړے دے. او ویلی نے دی چه د داؤد مذهب دادے. چه مسواک سنت دے لکه جماعت. او کۀ چرے د داؤد نه د مسواک وجوب ثابت شی بیا هم په اجماع کښې ددۀ مخالفت ضرر نه کوی. خکه چه محققین علماء او اکثر په دے طرف تلی دی. چه مسواک سنت دے. او اسحق بن راهویه رحمه الله نه د وجوب روایت صحیح نۀ دے. بیا مسواک مستحب دے په تولو وختونو کښې. لیکن پنځۀ وخته زیات مستحب دی. یو خو د مانځۀ په وخت اگر کۀ په اوداسۀ سره وی یا په تیمم سره. دویم د اوداسۀ په وخت. دریم د قرآن د تلاوت په وخت. څلورم د خوب نه د بیدارئ په وخت. پنځم د خلے د تغیر په وخت او دا تغیر یا خو د نۀ خوراک او څښاک نه کیږی یا د بدبودار څیز د خوړلو نه یا د ډیر وخته پورے د غلی پاتے کیدو نه یا د ډیرو خبرو د کولو نه. او د امام شافعی رحمه الله مذهب دادے چه مسواک د روژه دار دپاره مکروه دے د غرمے د وخت نه پس ددے دپاره چه د روژه دار د خلے بوئ چه هغه نه د خوراک نه پیدا شوے وی. او هغه الله پاک ته غوره دے. لرے نۀ شی. او مستحب دے چه مسواک د پیلو وی. او کۀ چرے په یو داسے څیز سره اوکړی. چه په هغے سره د خلے تغیر ختم شی نو مسواک به ادا کړے شی لکه په سخته کپړه سره او سُعد سره یا اسنان سره (دغه شان په منجن سره). او کۀ چرے په گوته سره نے اومږی او هغه گوته نرمه وی نو مسواک نۀ ادا کیږی. او کۀ چرے سخت وی نو په هغے کښې درے قولونه دی. یو خو مشهور دے چه نۀ کافی کیږی. دویم دا چه کۀ چرے بل څۀ څیز د مسواک کولو دپاره ملاؤ نۀ شی نو کافی کیږی. او مستحب دادے چه په متوسط لرگی سره مسواک اوکړی چه هغه نۀ ډیر کلک وی. چه د هغه سره أورئ زخمی شی. نۀ بالکل نرم. او مستحب ددے چه مسواک د خلے په عرض کښې اوشی نۀ په اوږد والی کښې. داسے نه چه أورئ زخمی کړی. او کۀ چرے په اوږد والی کښې مسواک کوی نو سنت اودا کیږی لیکن مکروه دے. او مسواک به ښۀ گرځوی د غاښونو په غاړو او زیلو او تول حلق کښې او لاندے د نرمئ سره. او اول به د ښی طرفنه شروع کوی. او د بل مسواک کول د هغۀ په اجازت سره صحیح دی. او هلک ته د معصوم والی نه د مسواک عادت ورکوئ ددے دپاره چه عادت شی

[2] نووی وائی دا حدیث دلیل دے ددے خبرے چه مسواک واجب نۀ دے. امام شافعی وائی کۀ چرے واجب وے نو هغه به حکم کړے وو. اگر کۀ هغه بوجه کیدے. او یو جماعت د علماؤ ویلی دی ددے حدیث نه معلومیږی چه امر د وجوب دپاره دے. دغه

عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ قُلْتُ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ قَالَتْ بِالسِّوَاكِ

مقدام بن شریح د خپل پلار نه اوریدلی دی. هغوی وانی ما د حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو. رسول اللهﷺ چه به کله کورته راتلونو اول به ئے څهٔ کار کولو؟ هغے اووے . مسواک به ئے کولو. (ددے نه معلومه شوه چه مسواک څومره ضروری څیز دے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ بَدَأَ بِالسِّوَاكِ

د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ چه به کله کورته راغے نو اول به ئے مسواک کوو.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَرَفُ السِّوَاكِ عَلَى لِسَانِهِ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے چه زهٔ د رسول اللهﷺ خواله لاړم. د مسواک یوه حصه د هغهٔ په ژبه باندے وه. (یعنی په مسواک سره ئے ژبه صفا کوله

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ لِيَتَهَجَّدَ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ

د حذیفهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ چه به هر کله پاسیدو د تهجدو د کولو دپاره نو خلهٔ به ئے صفا کوله په مسواک سره (یا غاښونه به ئے صفا کول په مسواک سره)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَقَامَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَخَرَجَ فَنَظَرَ فِي السَّمَاءِ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ فِي آلِ عِمْرَانَ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ حَتّٰى بَلَغَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الْبَيْتِ فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى ثُمَّ اضْطَجَعَ ثُمَّ قَامَ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه هغه یوه شپه د رسول اللهﷺ سره وو. نو د شپے په آخره حصه کښ حضرتﷺ پاسیدو. او بهر راااووتو اسمان طرفته ئے اوکتل. او بیا ئے دا ایت اولوستو چه په سورة آل عمران کښ دے : إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ نه واخله د فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ پورے. بیا واپس شو دنته راغے. او مسواک ئے اوکړو او اودس ئے اوکړو. او په ولاړه ئے مونځ اوکړو او بیا سملاستو . بیا پاځیدواو بهر ته اووتو او د اسمان طرفته ئے اوکتل او دغه ایت ئے اولوستو او بیا واپس دنته راغے او

مذهب دے داکثر فقهاؤ او د یو جماعت د متکلمینو او د اصحاب رسول. او دا هم معلومیږی چه کوم امر مستحب دے هغه مامور به نه دے. او دا هم معلومیږی چه په کومه سئله د خدائے تعالی دَ طرفنه څهٔ حکم را نهٔ شی. په هغے کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم لره په خپل امت باندے څومره شفقت او آسانی منظوره وه. او دا هم معلومیږی چه د هر مانځهٔ په وخت مسواک کول غوره دی (انتهی باختصار)

فَخَرَجَ فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ فَتَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ ثُمَّ رَجَعَ فَتَسَوَّكَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى

مسواک ئے اوکړو او اودس ئے اوکړو. او بیا اودریدو مونځ ئے اوکړو[1].

بَاب خِصَالِ الْفِطْرَةِ

باب: د سنت خبرو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْفِطْرَةُ خَمْسٌ أَوْ خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَنَتْفُ الْإِبْطِ وَقَصُّ الشَّارِبِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. فطرت پنځهٔ دی یا پنځهٔ څیزونه د فطرت نه دی. ختنه کول او د نوم نه لاندے ویختهٔ خرول، او نوکونه پریکول، او د ترخ ویختهٔ ویستل، او بریت لنډول[2].

---

[1] : نوویؒ وئیلی دی دد ے حدیث نه لوئې فائد ے اوښکلی احکام وتلی دی او امام مُسْلم رحمه الله په د ے مقام باند ے د ے حدیث لږه مختصر ذکر کړے د ے. او پوره حدیث ئے په کتاب الصلٰوة کښ بیان کړے د ے. مونږ به هم هلته دد ے شرح او فوائد بیانوو. انشاء الله

[2] : نوویؒ وئیلی دی د فطرت نه دلته څهٔ مراد د ے؟ په د ے کښ علماؤ اختلاف کړے د ے. ابوسلیمان خطابی رحمه الله وئیلی دی. اکثر علماؤ د فطرت معنے سنت کړی ده. او مطلب دا د ے چه دا څیزونه د پیغمبرانو سنت دی. او بعضو وئیلی دی د فطرت نه دین مراد د ے. بیا دهغے نه اکثر څیزونه واجب نهٔ دی. او د بعضے څیزونو په وجوب کښ اختلاف د ے. لکه ختنه او غرغرے کول او پوزه کښ اوبهٔ اچول.

ختنه کول د امام شافعی رحمهاالله او ډیرو عالمانو په نز واجب دی. او د امام مالک رحمه الله او اکثرو علماؤ په نز سنت دی. د امام شافعی رحمه الله په نز ختنه په سړے او ښځو دواړو باند ے واجب ده. په سړی باند ے خو دا چه د حشفے (یعنی د ذکر په سر باند ے) چه څومره څرمن ده هغه به ټوله پریکولے شی. چه پوره حشفه کهولاؤ شی. او په ښځه باند ے دا چه د فرج د پورته جانب نه یوه ټکړه د غوښے کټ کړے شی. او صحیح مذهب زمونږه چه په هغے باند ے جمهور علماء دی. دا د ے چه ختنه په ماشوم والی کښ جائز ده. واجب نهٔ ده. او یو قول دا د ے چه په ولی باند ے د نابالغ ختنه کول واجب دی د هغهٔ د بالغ کیدو نهٔ مخکښے. او یو قول دا د ے چه ختنه د لسو کالونه مخکښے حرامه ده. او صحیح دا ده چه ختنه د بچی د پیدائش په اوومه ورځ کول مستحب دی. او د پیدائش ورځ به ورسره هم حساب وی. لو زمونږ بعضے ملګرو اختلاف کړے د ے. په خنثی مشکل کښ (یعنی په چا کښ چه د ښځے او سړی ددواړو نخښے برابر وی) بعضو وئیلی دی د هغهٔ ختنه په فرج کښ کول پکاردی د بلوغ نه ورستو. او بعضو وئیلی دی د کومے پور ے چه دهغهٔ حال ښکاره شوی نهٔ وی چه سړے د ے یا ښځه ده د هغے وخته پور ے د هغهٔ ختنه کول پکار نهٔ دی. او د کوم سړی چه دوه ذکره وی. کهٔ چر ے دواړه دکار وی نو د دواړو ختنه به کولے شی. کنی کوم چه د کار وی د هغے ختنه به کوی او د کار نه مراد د بعضو متیاز ے دی. او د بعضو په نز جماع ده. او کهٔ چر ے یو سړے بے ختنے (نهٔ) مر شی نو په هغے در ے قولونه دیؒ صحیح او مشهور قول دا د ے چه ختنه به ئے نهٔ کوی. خواه کهٔ هغه وړوکے وی یا لوئے. دویم دا د ے چه ختنه به کوی. دریم دا د ے چه لوئی وی نو کوی به ئے کهٔ وړوکے وی نو نهٔ به ئے کوی. (انتهٰی).

د نامهٔ لاند ے ویخته لر ے کول په چاړهٔ سره او دا سنت دی. او مقصود دا د ے چه مقام پاک او صفا شی. او غوره خرول دی. او قینچی کول او ویستل د ویختو هم صحیح دی. دغه شان په دارو لر ے کول هم صحیح دی. او مراد د نامهٔ نه لاند ے هغه ویختهٔ دی چه هغه په ذکر باند ے وی. او د هغے نه ګیر چاپیره. دغه شان هغه ویخته چه د ښځے د فرج خواؤ شاته وی. ابوالعباس بن شریح وئیلی دی چه مراد هغه ویختهٔ دی چه هغه د دبّر نه چاپیره وی. بهر حال د قُبُل او دبّر او د هغے خواؤ شا ویختهٔ ټول خرول غوره دی. اوس د هغے دپاره څهٔ

میعاد مقرر نه دے کله چه ضرورت شی به هغه وخت ئے خرول پکار دی یعنی هر کله چه ویختهٔ لوئے شی دغه شان د بریتو او ترخونو د ویختو دپاره لو د نوکونو د کټ کولو دپاره څهٔ میعاد مقرر نهٔ دے او : نامهٔ لاندے د ویختو دپاره منقول دے چه د څلویښتو ورځو نه به نے زیات نه پریږدئ ددے نه دا مقصود دے چه په څلویښت ورځو کښې دې ته دته خرول پکار دی نه دا چه څلویښت ورځے څهٔ د خرولو میعاد دے (نووي رحمه الله) بعضے بے وقوف کم پوهه خلق دا خیال کوی چه د شریعت محمدی کښې به داسے وړو وړو خبرو سره ولے بحث کیدے شی د هغے جواب دادے چه دا امر خو د هغه شریعت دپاره ضروری دے چه د ټولو شریعتونو نه غوره او د ټولو ناسخ دے لو اعلیٰ هغه دی چه په هغے کښې د ټولو ضروریاتو تعلیم وی او وړے وړے خبرے سپکے ګڼړل او پریخودل او د هغے د تعلیم په طرف توجه نهٔ کول دا خو د بے وقوفانو کار دے نهٔ د عالمانو عاقلانو البته په دے امر کښې غور کول پکار دی چه دا خبرے مفید دی فائده ورکونکے یا بے کاره په غور کولو سره معلومیږی چه په شریعت محمدی کښې چه د هغے حکم شوے دے هغه ادنیٰ وی یا اعلیٰ ټول نه ټول فائده مند او ضروری او فائده ورکونکی دی. یو د نامهٔ لاندے ویختو لرے کولو ته ګوره چه علاوه د طهارت او نفاست نه طبًا هم دا امر قوت باه لره زیاتوی په دے شان نورو کارونو لره قیاس کړه. هغه سړے لوئے جاهل کم پوهه ناپوهه او بے وقوفه دے چه هغه پیغمبرانو لره د خپل ځان برابر خیال کوی او دا ګڼړی چه د هغوی احکام ټول مفید او ضروری نهٔ شی کیدے

نوکونه پریکول دا هم سنت دی واجب نهٔ دی. او مستحب دی چه اول د دواړو لاسونو نوکونه پریکړی. بیا وړسے د خپو نوکونه اول به د ښی لاس د کلمے د ګوتے نه شروع کړی. بیا د مینځ ګوته بیا د هغے ملګرے ګوته. بیا کچه ګوته دغسے په غټه ګوته ئے ختم کړی. بیا به د ګس لاس نوکونه د کچے ګوتے نه شروع کړی بیا به هغے وړسے وړسے دغه شان په کټه ګوته به ئے ختم کړی. بیا به د ښے خپے د کچے ګوتے نه شروع اوکړی او د ګسے خپے په کچه ګوته به ئے ختم کړی (نووي رحمه الله)

د ترخونو ویښتهٔ ویستل دا په اتفاق سره سنت دی او غوره داده چه اوئے باسی کهٔ چرے ویستے ئے شی. او خرول او دارولګول پر هم صحیح دی او د یونس بن عبد الاعلیٰ نه منقول دے چه زهٔ د امام شافعی رحمه الله خواله لاړم. د هغهٔ سره مزین وو. هغهٔ د هغه ترخونو ویختهٔ خرول. هغه اووے چه زهٔ پوهه یم چه ویستل ئے سنت دی. لیکن څما نه نهٔ شی کیدے د درد د وجے نه. او مستحب دی چه ورمبی د ښی ترخ نه شروع اوکړی (نووي رحمه الله).

نوکونه کټ کول دا هم سنت دی. او مستحب ده چه د ښی طرفنه کټ کول شروع کړی او اختیار دے چه کهٔ پخپله ئے کټ کوی یا ئے په بل باندے کټ کوی او د ترخ ویختهٔ پخپله کټ کول غوره دی. او کهٔ په بل ئے اوخره وی نو هم جائز دی. لیکن د نامهٔ لاندے ویختهٔ به پخپله خروی. اوس په دے کښې اختلاف دے. چه بریت د کوم خائے پورے کټ کول پکار دی. مختار قول دادے چه د هغے پورے به ئے کټ کوی چه د شونډے غاړه ښکاره شی. او د بیخ نه به ئے په چارهٔ سره نهٔ کټ کوی. او هغه چه کوم په حدیث کښې راغلی دی چه کټ کړئ پریتو لره. مراد د هغے نه دادے چه لړ شان د شونډے نه اوچت وی. دغه شان د ږیرے د پریخودو حکم دے. لو د فارس د خلقو عادت وو چه هغو به ږیرو لره لنډولے. په شریعت کښې د هغے ممانعت راغے او علماؤ د ږیرے په باره کښې لس دولس خبرے داسے لیکلی دی چه یوه د بلے نه زیاته بده ده. یو خو په ږیره توره وسمه لګول. هر کله چه د جهاد په غرض سره نهٔ وی. دویمه زیړه وسمه لګول د نیکو خلقو سره د مشابهت دپاره ، نهٔ د سنتو د تابعداریٔ په وجه. دریمه وسمه لګول په ګوګړو وغیره سره ویختو لره زر د سپینولو دپاره. ددے وجے نه چه خلق ئے تعظیم او ادب کوی. او دا اوګڼړی چه بزرګ دے. څلورمه د خوانیٔ په اولو ورځو کښې چه هر کله د ږیرے ویختهٔ رااوخیژی. نو د هغے ویستل د زیبائش دپاره. پنځمه د سپینو ویختو ویستل شپږمه د ویختو صفونه د یو بل دپاسه ترل ددے دپاره چه ښځو ته ښهٔ ښکاره کیږم اوومه دے لره کمول د اتکو د ویختهٔ خرول یا لویه ول د سړو د ویختو سره یو خائے کول اتمه ګمنزول په نیت د نمائش. نهمه ویختو لره ګډ وډ پریخودل په بے پرواهیٔ سره خپل ځان ته بار بار زاهد ویلو لره لسمه د

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ أَنَسٌ وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ وَنَتْفِ الْإِبِطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً

انس بن مالک ؓ ویلی دی زمونږ دپاره میعاد مقرر شوے دے. د بریتو کټ کولو او د نوکونو پریکولو او د ترخونو د ویختو د ویستلو. او د نامۀ د لاندې د ویختو د خرولو. چه پریږدو مونږ هغے لره د څلویښتو ورځو نه زیات.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللِّحَى

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کټ کړئ بریتو لره او پریږدوئ ږیرو لره.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَمَرَ بِإِحْفَاءِ الشَّوَارِبِ وَإِعْفَاءِ اللِّحْيَةِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. مونږ ته حکم شوے دے. د بریتو د زیلی نه کټ کولو او د ږیرے د پریخودلو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَأَوْفُوا اللِّحَى

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. خلاف کوئ د مشرکانو اوباسئ بریتو لره او پوره ساتئ ږیرو لره (یعنی پریږدوئ هغے لره او هغے لره لنډول مۀ کوئ)[1]

هغے تور والی یا سپین والی ته کتل د غرور او تکبر او فخر په نیت سره. یولسم هغے لره ترل او صحیح کول. دولسمه هغے لره خرول. خو کۀ د ښځے ږیره راوخیژی نو هغے لره خرول مستحب دی (انتهٰی)

[1]: دا قول دے د یو جماعت زمونږ د اصحابو نه. او د ډیرو علماؤ او قاضی عیاض وئیلی دی. د ږیرے لنډول او قینچی کول مکروه دی او د هغے د اوږدوالی او پلنوالی نه د ویختو اخستل او برابرول غوره دی. او مکروه دی چه بنده خپله ږیره لویه کړی په شهرت سره لکه ږیره قینچی کړے. او سلفو اختلاف کړے دے. چه د ږیرے حد څۀ دے. بعضو ویلی دی چه څۀ نشته مگر دومره به نے لویه وی چه مشهور کړے شی. بلکه کمه به نے پریږدی. او امام مالک ږیرے لنډولو ته مکروه ویلی دی. او بعضو یو موټے حد کړے دے. څومره قدرے چه د هغے نه زیات وی قینچی کول پکار دی. او بعضو د ږیرے لنډول مطلقًا مکروه گنړلی دی. مگر په دوران د حج یا د عمره کښې. او په بریتو کښې خو د سلفو دا قول دے. چه بالکل د زیلے نه قینچی کړے شی. یا أوخرولے شی. ولے چه رسول الله ﷺ صفا فرمائیلی دی. کټ کوئ بریتو لره. او دا قول دے د اهل کوفه. د خاوندانو د کوفے. او ډیر خلق ددے په طرف تلی دی چه د بریتو بالکل خرول مکروه دی. او امام مالک ؒ ویلی وو. چه دا مُثله ده. او څوک چه داسے کوی هغوی له د سزا ورکړے شی. او مکروه به نے گنړل د هغے اخستل دپاسه نه او د هغۀ دا قول دے. چه احفاء او جزا او رقص د تولو معنیٰ قینچی کول دی. یعنی بریتو لره قینچی کول پکار دی تردے پورے چه شونډے ښکاره شي. او بعضے علماؤ ویلی دی چه په دے دوارو حکمونو کښې اختیار دے. کوم چه غواړی کوی دے. ختم شو کلام د قاضی عیاض. او مختار دادے چه ږیره خو په خپل حال باندے پریخودے شی. په هغے کښې کمے نۀ کوی او بریتو نه دومره کټ کړی چه د شونډے غاړے ښکاره پاتے شی. (نووی رحمه الله)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللِّحَى خَالِفُوا الْمَجُوسَ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي. کټ کوئ بريتو لره او رنګوئ ږيرو لره او خلاف کوئ د فارسيانو (يعنی آتش پرستو)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ وَالسِّوَاكُ وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ وَقَصُّ الأَظْفَارِ وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ وَنَتْفُ الإِبِطِ وَحَلْقُ الْعَانَةِ وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ قَالَ زَكَرِيَّاءُ قَالَ مُصْعَبٌ وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ إِلاَّ أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةَ زَادَ قُتَيْبَةُ قَالَ وَكِيعٌ انْتِقَاصُ الْمَاءِ يَعْنِي الاِسْتِنْجَاءَ

د ام المؤمنين حضرت عائشے نه وايت دے. چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. لس خبرے پيدائشي سنت دي. يو بريت کټ کول، دويم ږيره پريخودل، دريم مسواک کول، څلورم په پوزه کښ اوبه اچول ، پنځم نوکونه پريکول ، شپږم د پورو وينځل (د غوږونو دننه او پوزه او د ترخ او د ورنانو وينځل) اووم د ترخ ويختۀ ويستل، اتم د نامۀ د لاندے ويختۀ اخستل، نهم په اوبو سره استنجا کول (يا په شرمګاه باندے د اودس نۀ پس لږ شان اوبۀ ترمکيه کول) مصعب وائي خما نه لسمه خبره هيره شوه. کيدے شي چه غرغره کول وي. وکيع ويلي دي. د انتقاص المآءِ نه (کوم چه په حديث کښ راغلے دے) استنجا مراد ده.

بَابُ الاِسْتِطَابَةِ

باب : د استنجا بيان

عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قِيلَ لَهُ قَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ قَالَ فَقَالَ أَجَلْ لَقَدْ نَهَانَا أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِأَقَلَّ مِنْ ثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيعٍ أَوْ بِعَظْمٍ

د سلمان نه روايت دے چه هغۀ ته اوويلے شو ستاسو نبی تاسو ته هره يوه خبره ښودلے ده. ترد ے پورے د غټ اودس ماتی او د وړوکی اودس ماتی هم. هغوی اووے . آو. مونږ هغۀ منع کړی يو د قبيلے په طرف د مخ کولو نه د متيازو او د غټ اودس ماتی دپاره. يا چه مونږ استنجا کوؤ په ښی لاس سره. او د دريو ګټو نه په کم استنجا کولو سره يا په غوشيانو او هډوکی سره د استنجا کولو نه[1].

---

[1] نووی رحمه ويلی دی په دے مسئله کښ د علماؤ څو مذهبونه دی. يو خو د امام مالک او امام شافعي رحمهما الله مذهب دے هغه داد ے چه د متيازو او د غټو بولو په وخت د قبلے طرفته مخ کول په ځنګل کښ حرام دی. مګر په اباد‌ئ کښ حرام نۀ دی او دا روايت دے د عباس بن عبد المطلب او عبد الله بن عمر رضی الله عنهم او شعبی او اسحق بن راهويه او امام احمد بن حنبل رحمهم الله نه دويم مذهب داد ے چه هر ځائے حرام دی کۀ په ځنګل کښ وی يا اباد‌ئ کښ. او دا قول دے د ابوايوب انصاری او مجاهد او ابراهيم نخعي او سفيان ثوری رحمهم الله او د ابوثور او د احمد رحمهم الله په دويم روايت کښ. دريم مذهب داد ے چه هر ځائے صحيح

دی که په کور کښې وی یا په ځنګل کښې. او دا مذهب دے د عروه بن زبیرؓ او ربیعهؒ چه شیخ وو د امام مالک او داؤد ظاهری رحمهما الله. ځلورم مذهب دا دے چه قبلې طرفته مخ کول چرته هم صحیح نه دی نه په ځنګل کښې نه په کور کښې لیکن شا کول ورته صحیح دی او دا یو روایت دے د امام ابوحنیفه او امام احمد رحمهما الله نه. د دویم مذهب والو دلیل هغه صحیح حدیثونه دی چه هغه مطلقًا په ممانعت کښې راغلی دی لکه د سلمانؓ حدیث او د ابوایوب او ابوهریره رضی الله عنهما وغیرهم. هغوی ویلی دی چه دا ممانعت د قبلې د عظمت په سبب دے او دا خبره هر ځائے موجوده ده. خواه که ځنګل وی یا مکان وی. او که د کور د پردے په وجه دا امر جائز وی نو پکار ده چه په ځنګل کښې هم جائز وی ځکه چه په ځنګل کښې زمونږ او د کعبې په مینځ کښې غرونه او نالې وغیره حائل دی. دریم مذهب والو دلیل د ابن عمرؓ حدیث دے. چه هغوی رسول الله ﷺ لره د بیت المقدس طرفته مخ کړے او د کعبې طرفته شا کړے لیدلے دے د حاجت په وخت. او د حضرت عائشےؓ حدیث دے چه رسول الله ﷺ ته دا خبر اورسیده. چه بعضې خلق قبلې طرفته مخ کول د حاجت په وخت مکروه ګڼړی. هغهٔ اوفرمائیل آو داسې خیال کښې بیا هغهٔ اوفرمائیل خما قدمچه دقبلې په طرف کړئ. دے حدیث لرهٔ امام احمدؒ په خپل مسند کښې او ابن ماجه په اسناد حسن روایت کړے دے. د ځلورم مذهب والو دلیل د سلمان حدیث دے د اولنی مذهب والو دلیل د عبد الله بن عمرؓ حدیث دے او د حضرت عائشےؓ او حدیث د جابرؓ چه رسول الله ﷺ منع کړے ده په متیازو کښې د قبلې په طرف د مخ کولو نه بیا ما اولیدو هغوی لره د وفات نه یو کال مخکښې هغه د قبلې طرفته مخ کړے وو روایت کړے دے دے لره ابوداؤد او ترمذی وَغَیرِهُمَا په اسناد حسن سره او حدیث د مروان اصفر، ما اولیدهٔ هغوی چه اوښه ئے کینوله د قبلې مخے ته بیائے د هغې په پناهی کښې متیازے اوکړے. ما اووے چه دا خو منع دی هغوی اووے منع هله دی هر کله چه په اوار میدان کښې داسے اوکړے که چرے په قبله کښې او د استنجا کولو والا په مینځ کښې څهٔ څیز حائل وی نو منع نشته. روایت کړے دے لره ابوداؤد او دا حدیثونه صحیح دی چه د هغې نه ددے امر جواز په مکان کښې ثابتیږی او د ابوایوب او سلمان او د ابوهریره رضی الله عنهم حدیثونه چه په ممانعت کښې وارد دی. هغه محمول دی په صحراء باندے ددے دپاره چه جمع کړے شی په حدیثونو کښې. او دا امر متفق علیه دے. چه په حدیثو کښې جمع کول ضرور دی هر کله چه جمع شی. او دلته خو جمع ممکنه ده. او په ځنګل او مکان کښې صرف فرق دا دے چه په ځنګل کښې د قبلې په طرف د مخ کولو او شا کولو ضرورت نشته. او په مکان کښې کله ضرورت وی. مثلاً قدمچې په دے طرف جوړے وی. یا په بل طرف ځائے نه وی او چا چه شا کول صحیح ګڼړلی دی. د هغې د رد دپاره دیر قسم صحیح موجود دی. چه په هغې کښې مطلقًا ممانعت راغلے دے لکه د ابو ایوبؓ وغیره حدیث. اوس د امام شافعی د مذهب موافق په کور کښې د قبلې په طرف مخ او شا کول هغه وخت صحیح دی هر کله چه دیوال د مکان نه د درے لاسو یا د هغې نه په کمه فاصله باندے وی. او هغه دیوال د پردے دومره قدرے دنګ وی چه د لاندینو اندامونو پرده ترے راتلے شی د هغې اندازه ئے د پلنوالی د ورستی لرګی سره کړے ده. او هغه د لاس دوه دومره برابر وی. بیا که چرے د دریو لاسونه زیاته فاصله وی. یا پرده د هغې نه وړه وی نو مخ کول یا شا کول به حرام وی په مثل د ځنګل او زمونږ د بعضے اصحابو په نز په هر حال کښې په مکان کښې دا امر صحیح دے. او په ځنګل کښې صحیح نه دے لیکن صحیح اولنے قول دے. او څهٔ فرق نشته په پرده کښې خواه که د ځناور وی یا دیوال یا د ختو یا د غر او کچرے خپله لمن قبلې طرفته زوړنده کړی نو په هغې کښې اختلاف دے صحیح دادہ چه صحیح دی ځکه چه پرده اوشوله اوس کوم ځائے چه مخ کول یا شا کول صحیح دی هلته هم کراهت دے لیکن د جمهورو په نز مکروهه نه دے. او مختار دا دے چه که چرے تکلیف او حرج وی بل طرفته د مخ کولو یا شا کولو سره نو مکروهه نه دی او که تکلیف یا حرج نه وی نو مکروه دی او جماع کول صحیح دی د قبلې په طرف د مخ کولو سره که په کور کښې وی یا په ځنګل کښې زمونږه او د ابوحنیفه او امام احمدؒ او داؤد ظاهریؒ دغه قول دے او مالکیؒ خلقو په دے کښې اختلاف کړے دے. ابن قاسم دے لره جائز کړے دے. او ابن حبیب ورته مکروه ویلی دی. لیکن صحیح

جواز دے او د بیت المقدس په طرف مخ یا شاکول صحیح دی لیکن مکروهه دی او کچرے د غټ اودس ماتی یا د متیازو کولو په وخت د قبلے په طرف د مخ یا د شاکولو نه بچ شي پیا د استنجا په وخت داسے اوکړی نو جائز دی. په ښی لاس سره استنجا کول بالاتفاق منع دی مګر حرام نه دی او د بعض اهل ظاهرو په نز حرام دی. زمونږ اصحاب وائی چه په ښی لاس سره د استنجا متعلق څۀ کار مۀ اخلی مګر په عذر سره. کۀ چرے په اوبو سره استنجا کوی نو په ښی لاس سره د اوبه غورځوی. او په ګس لاس د مړی دورو بولو اندام لره یا د لویو بولو اندام لره. او کۀ چرے په لوټه سره استنجا کوی نو مقعد لره به په ښی لاس سره صفا کوی او ذکر لره به لوټه په زمکه باندے یو د دوارو خپو په مینځ کښ کیږدی او اوچوی به ئے. او په ګس لاس سره به ذکر اونیسی. او څوک چه داسے نۀ شی کولے نو لوټه به په ښی لاس سره اونیسی او ذکر به په ګس لاس سره پاکوی. او ښی لاس به نۀ خوځوي او زمونږ بعضے اصحابو ویلی دی چه ذکر لره به په ښی لاس سره نیسی او لوټه به په ګس لاس کښ اخلی. خو دا صحیح نه دے (نووی).

د دریو ګټو نه په کمه ئے استنجا کول منع فرمائیلی دی. نووی وائی دد ے حدیث نه صفا معلومیږی چه درے څله اوچول واجب دی او په دے مسئله کښ د عالمانو اختلاف دے. زمونږ مذهب دادے چه په لوټه سره د پلیتئ لرے کول ضروری دی. او درے څله صفائي ضروری ده کچرے په یو ځل یا دوه څله سره پلیتی لرے شوه. نو په دریم څله صفائی ضروری ده. او دا قول دے د احمد بن حنبل او اسحاق بن راهویه او ابوثور او امام مالک او داؤد ویلی دی چه واجب صفا کول دی د پلیتئ نه. کۀ چرے په یوه لوټه سره هم صفائی اوشی نو پوره ده او زمونږ د بعضے اصحابو هم دغه قول دے لیکن مشهور مذهب دغه دے کوم چه وړاندے بیان کړے شو زمونږ اصحابو ویلی دی چه کۀ چرے په داسے لوټه یا ګټه سره استنجاا کوی چه د هغے درے ګوټونه وی. او په هر یو ګوټ سره ئے یو ځل پاک کړی نو پوره به کړے شی. ځکه چه مقصود درے څله پاکول دی. او درے ګټے یا لوټے غوره دی. دغه شان د یوے ګټے یا د یوے لوټے نه او کۀ چرے د مخے روستو دوارو طرفونو صفائي کوی نو شپږ څله صفائی ضروری ده. او غوره داده چه شپږ لوټے وی لیکن کۀ دوه لوټے شپږو ګوټونو والاوی نو صحیح ده. دغه شان ه غته توټه کپړه سره چه د هغے دووم طرفته لوندوالے نه رسی استنجا کول صحیح دی. زمونږ اصحابو ویلی دی چه کۀ چرے په درے لوټو سره صفائی اوشوه نو اوس به څلورمه نۀ اخلی او نۀ څلورمه اخستل ضروری دی کۀ چرے په څلورمه سره صفائی راڅغله نو پنځمه اخستل واجب دی. اوس به شپږمه نۀ اخلی. او کۀ چرے په پنځمه سره صفائی اونۀ شوه نو شپږمه اخستل واجب دی. او کچرے په شپږمه سره صفائی اوشوه. نو اوومه اخستل مستحب دی د طاق کولو دپاره. غرض دادے. چه کۀ چرے صفائی په طاق سره اوشی نو اوس به بله نۀ سوا کوی. او کۀ په جفت سره اوشی نو یوه به سوا کړی طاق به ئے کړی. او رسول الله ﷺ چه په کوم حدیث کښ د ګټو ذکر کړے دے. دد ے نه بعضے اهل ظاهرو سوا د ګټے نه په بل څیز باندے استنجا کول ناجائز ګنړلی دی. او د اکثرو عالمانو دا قول دے چه د ګټے څۀ تخصیص نشته بلکه په کپړه او لرګی باندے هم استنجا صحیح ده. او غرض دادے چه داسے څیز وی چه په هغے سره پلیتی لرے شی. او دا کار سوا د ګټے نه په نورو څیزونو باندے هم کیدے شی. او رسول الله ﷺ د ګټو ذکر دد ے دپاره کړے دے چه اکثر ګټے د اسانتیا سره ملاویږی. او دلیل د هغے دادے چه هغه منع کړے ده په هډوکی او غوشانو سره او وخو (د ګیاه) سره د استنجا کولو نه. کچرے د ګټے تخصیص منظور وے. نو سوا د ګټے نه به ئے د نورو تولو څیزونو نه منع کړے وه. نووی

په غوشیانو او هډوکی سره استنجا کول صحیح نۀ دی. او د هډوکی ممانعت دد ے وجے نه دے چه هغه د پیریانو خوراک په څیز استنجا کول منع دی او د خناور په هر یو جزء سره او د کتابونو په پاڼړو سره نجس څیز کۀ نرم وی د اوبو پشان یا جمع شوی وی په هغے سره په څۀ شان استنجا جائز نه ده. کۀ چرے چا په دے سره استنجا اوکړه نو صحیح به نۀ وی. بیا به په پاکو اُوبو سره استنجاکول غواړی. لوټه به کافی نۀ وی. ځکه د استنجا مقام بیلمازه شو په اجنبی پلیتئ سره او چا چه د څۀ خوراک په څیز سره استنجا اوکړه نو

عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ لَنَا الْمُشْرِكُونَ إِنِّي أَرَى صَاحِبَكُمْ يُعَلِّمُكُمْ حَتَّى يُعَلِّمَكُمُ الْخِرَاءَةَ فَقَالَ أَجَلْ إِنَّهُ نَهَانَا أَنْ يَسْتَنْجِيَ أَحَدُنَا بِيَمِينِهِ أَوْ يَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَنَهَى عَنِ الرَّوْثِ وَالْعِظَامِ وَقَالَ لَا يَسْتَنْجِي أَحَدُكُمْ بِدُونِ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ

د سلمانؓ نه روايت دے چه مونږ ته مشركانو اووے مونږ وينو ستاسو صاحب لره هغه تاسو ته هر څيز ښائي تردے چه لوئے او واړه بول كول هم. سلمانؓ اووے بيشكه هغه مونږ منع كړي يو په ښي لاس سره د استنجا كولو نه يا د قبلے په طرف د مخ كولو نه په حالت د بولو كولو كښې او منع كړي يو مونږ په غوشيانو او هډوكو سره د استنجا كولو نه او هغه فرمايلي دي. څوک دِ په استنجا نۀ كوي د دريو ګانړو نه بغير يا د دريو كانړو نه كم.

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَمَسَّحَ بِعَظْمٍ أَوْ بِبَعْرٍ

د جابرؓ نه روايت دے. منع كړے ده رسول اللهﷺ د پاكولو د هډوكي يا د پچونه (يعني استنجا لره په دے څيزونو سره)

بَابُ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ بِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ

باب : د لوي بولو او متيازو په وخت د قبلے په طرف د مخ كولو حكم

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا بِبَوْلٍ وَلَا غَائِطٍ وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا قَالَ أَبُو أَيُّوبَ فَقَدِمْنَا الشَّامَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِيضَ قَدْ بُنِيَتْ قِبَلَ الْقِبْلَةِ فَنَنْحَرِفُ عَنْهَا وَنَسْتَغْفِرُ اللهَ قَالَ نَعَمْ

د ابوايوبؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ فرمائيلي دي هر كله چه تاسو د لويو بولو دپاره ځئ نو د قبلے په طرف مۀ مخ كوئ او مۀ شاكوئ د هغے په طرف لويو بولو كښې يا متيازو كښې. البته مشرق يا مغرب په طرف مخ كوئ. ابوايوب ويلي دي بيا مونږ د شام ملک ته راغلو څۀ ګورو چه د بولو ځايونه د قبلے په طرف جوړ شوي دي مونږ به د هغے نه مخ اړولو او د خدائے نه به مو استغفار غوښتلو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ عَلَى حَاجَتِهِ فَلَا يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلَا يَسْتَدْبِرْهَا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي. چه هر كله ستاسو نه څوک د حاجت دپاره كيني. نو د قبلے په طرف دِ نۀ مخ كوي او نۀ دِ شاكوي.

صحيح داده چه صحيح به نۀ وي. په لوټه سره استنجا د هغے نه پس كافي ده. اګر چه پليتي د خپل مقام نه زياته شوے نۀ ده. او بعضے وائي استنجا به صحيح وي مګر ګنهګار به وي. نووي رحمه الله

بَابُ الرُّخْصَةِ فِيْ ذٰلِكَ فِيْ الْأَبْنِيَةِ

عَنْ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ مُسْنِدٌ ظَهْرَهُ إِلَى الْقِبْلَةِ فَلَمَّا قَضَيْتُ صَلَاتِي انْصَرَفْتُ إِلَيْهِ مِنْ شِقِّي فَقَالَ عَبْدُ اللهِ يَقُوْلُ نَاسٌ إِذَا قَعَدْتَ لِلْحَاجَةِ تَكُوْنُ لَكَ فَلَا تَقْعُدْ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَلَا بَيْتِ الْمَقْدِسِ قَالَ عَبْدُ اللهِ وَلَقَدْ رَقِيتُ عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ فَرَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلًا بَيْتَ الْمَقْدِسِ لِحَاجَتِهِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَقِيتُ عَلَى بَيْتِ أُخْتِي حَفْصَةَ فَرَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا لِحَاجَتِهِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ

باب: په کورونو کښې دد ے أمر د اجازت بيان

د واسع بن حبان نه روايت دے. ما مونځ لوستلو په جماعت کښې او عبد الله بن عمرؓ په خپله ما سره د قبلے په طرف ډډه وهلے وه ناست وو. کله چه ما مونځ اوکړو نو د يو طرفنه هغه ته را اوګرځيدم. عبد اللهؓ اووے خلق وائي چه هر کله حاجت ته کينئ نو قبلے او بيت المقدس طرفته مه مخ کوئ. او زهٔ چهت ته او ختم نو رسول اللهﷺ مے په دوو خښتو باندے ناست اوليدو د حاجت دپاره بيت المقدس طرفته ئے مخ کړے وو. (او هر کله چه بيت المقدس طرفته مخ شي مو د قبلے طرفته شا راځي)

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه زهٔ د خپلے خور حضرت حفصےؓ کور ته اوختم ما رسول اللهﷺ لره اوليدو د حاجت دپاره ناست شام طرفته ئے مخ وو. او د قبلے طرفته ئے شا وه.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْاِسْتِنْجَاءِ بِالْيَمِيْنِ

عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُمْسِكَنَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ بِيَمِيْنِهِ وَهُوَ يَبُوْلُ وَلَا يَتَمَسَّحْ مِنَ الْخَلَاءِ بِيَمِيْنِهِ وَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ

عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِيْنِهِ

باب: په ښي لاس سره د استنجاء کولو د ممانعت بيان

د ابوقتادهؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ فرمائيلي دي څوک د ستاسو نه خپل ذکر د ورو بولو کولو په وخت کښې په ښي لاس کښې نهٔ نيسي. او د لويو بولو نه پس د په ښي لاس سره استنجا نهٔ کوي او لوښي له به پوکے نهٔ وركوي[1]

د ابو قتادهؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ فرمايلي دي. هر کله چه څوک ستاسو نه تشي ته لاړ شي. نو نهٔ به نيسي ذکر خپل لره په ښي لاس سره.

[1] نووی رحمه الله ويلی دی په استنجاء کښې ذکر په ښي لاس سره نيول مکروه دی په مکروه تنزيهی نه تحريمی لکه چه پورته تير شو او مقصود داد ے چه په ښي لاس سره به څهٔ قسم مدد نهٔ اخلی په استنجاء کښې. او په لوښي کښې پوکے کول دد ے دپاره منع شو چه کيد ے شي د خلے يا د پوزے نه څهٔ خيز اوځي. او په اوبو کښې اوغروخيږي. ليکن د اوبو نه بهر در ے خله پوکل سنت دي.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ وَأَنْ يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ وَأَنْ يَسْتَطِيبَ بِيَمِينِهِ

د ابو قتادة نه روایت دے رسول الله ﷺ منع فرمایلے ده په لوښی کښې د پوکلو نه او خپل ذکر لره په ښی لاس سره د نیولو نه او په ښی لاس سره د استنجاء د کولو نه

بَاب التَّيَمُّنِ فِي الطُّهُورِ وَغَيْرِهِ

باب: په طهارت وغیره کښې د ښی طرفنه د شروع کولو بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُحِبُّ التَّيَمُّنَ فِي طُهُورِهِ إِذَا تَطَهَّرَ وَفِي تَرَجُّلِهِ إِذَا تَرَجَّلَ وَفِي انْتِعَالِهِ إِذَا انْتَعَلَ

د ام المؤمنین حضرت عائشې نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به غوره کول د ښی طرفنه شروع کول په طهارت کښې. او په ګومنز کولو کښې او په پیزار پخپو کولو کښې[1]

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ فِي نَعْلَيْهِ وَتَرَجُّلِهِ وَطُهُورِهِ

د ام المؤمنین حضرت عائشه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ښی طرفنه شروع کول په هر یو کار کښې غوره کول په پیزار پخپو کولو کښې، او په ګومنز کولو کښې او په طهارت کولو کښې «د بخاری په روایت کښې دی د کومې پورې چه ستاسو نه کیدے شی په هر کار کښې»

بَاب النَّهْيِ عَنِ التَّخَلِّي فِي الطُّرُقِ

باب: په لاره او سوری کښې د لویو بولو غورځولو

---

[1] نووی رحمه الله وائی دا یوه قاعده مستمره ده په شروع کښې. او هغه دا ده. چه کوم کار په دنیا کښې لږ شان عزت لری. لکه جامې اغوستل او موزے پخپو کول او جماعت ته تلل او مسواک کول او رانجۀ لګول او نوکونه پریکول، ا وبریت کټ کول، او ویختۀ ګومنزول، او د ترخ ویختۀ خرول او سلام ګرځول د مانځۀ نه پس او د اوداسۀ اندامونه وینځل ، او خوړل ، او څکل ، او مصافحه کول، او حجر اسود ښکلول او کومې خبرے چه ددے په شان دی. په هغې تولو کښې د ښی طرفنه شروع کول. او جامې ویستل، او پاجامه یا موزه ویستل او کوم کارونه چه ددے په مثل دی. په هغې کښې د طرفنه شروع کول مستحب دی. او دا تول په دے وجه سره چه ښی طرف لره په ګسِ طرف باندے برتری بزرګی او شرف دے. او اجماع کړے ده علماؤ په دے باندے چه په اوداسۀ کښې ښی لاس یا خپو لره وړاندے وینځل سنت دی. کۀ چرے ددے نه خلاف اوکړی نو فضیلت ختمیږی. لیکن اودس صحیح کید شی. او د شیعه ګانو په نزد دا امر واجب دے او د هغوی د خلاف څۀ اعتبار نشته دے. او د ګس طرفنه شروع کول اګر چه صحیح دی مګر مکروه دی امام شافعی رحمه الله صفا ویلی دی او په سنن ابوداؤد او ترمذی کښې په اسانید حسنه د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هر کله چه تاسو اغوندئ یا اودس کوئ نو د ښی طرفنه شروع کوئ او دا نص دے د ښی طرفنه په شروع کولو کښې اوس ددے خلاف کول مکروه دی یا حرام دی. او د علماؤ اجماع ده. په دے چه حرام نۀ دی خو مکروهه دی. او بعضے اندامونه د اوداسۀ داسے دی چه په هغې کښې د ښی طرفنه شروع کول مستحب نۀ دی. بلکه د ښی او ګس دواړو یو ځل طهارت کول پکار دی. لکه دواړه غوږونه او دواړه انتګی. کۀ چرے دا امر نۀ شی کیدے نو د ښی طرفنه د شروع کړی. نووی رحمه الله

وَالظِّلَالِ

ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتَّقُوا اللَّعَّانَيْنِ قَالُوا وَمَا اللَّعَّانَانِ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ فِي ظِلِّهِمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. خان اوساتئ تاسو د لعنت د دوو کارونو نه (یعنی د هغې په وجه سره به خلق پتاسو باندے لعنت کوی) خلقو اووے هغه د لعنت دوه کارونه کوم کوم دی. هغوی اوفرمائیل یو خو په لاره کښې (په کومه باندے چه خلق خی راخی) لوئے بول غورخول. دویم د سایه دار ځائے (چه هلته خلق په سوری کینی او آرام کوی) کښې لوئے بول غورخول (دد ے دوارو کارونو نه خلقو ته تکلیف وی. او هغه بد وائی لعنت کوی)

بَابُ الِاسْتِنْجَاءِ بِالْمَاءِ مِنَ التَّبَرُّزِ

باب: د قضاء حاجت نه بعد په اوبو باندے استنجاء کول

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ حَائِطًا وَتَبِعَهُ غُلَامٌ مَعَهُ مِيضَأَةٌ هُوَ أَصْغَرُنَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ سِدْرَةٍ فَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجَتَهُ فَخَرَجَ عَلَيْنَا وَقَدِ اسْتَنْجَى بِالْمَاءِ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د یو باغ دننه لاړو. او په هغې ورپسے یو هلک لاړو. د هغهٔ سره یو کوزه (لوټا وغیره) وه. هغه هلک په مونږ تولو کښې ورو کے وو. هغهٔ هغه لوټه د یو بیرے په خوا کښې کینبوده بیا چه رسول اللهﷺ د خپل حاجت نه فارغ شو او بهر راااووتو نو په اوبو سره ئے استنجاء اوکړه.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ نَحْوِي إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً فَيَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ لویو بولو له تلو. زهٔ او یو بل هلک څما برابر د اوبو بالتیے او نیزه واخسته بیا هغوی استنجاء اوکړه په اوبو سره (او نیزه ئے په دے وجه د خان سره ساتله چه هغه به ئے مخے ته خخه کړه او مونځ ئے اوکړی)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَبَرَّزُ لِحَاجَتِهِ فَآتِيهِ بِالْمَاءِ فَيَتَغَسَّلُ بِهِ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے . رسول اللهﷺ به د حاجت دپاره فراخه میدان ته تلو (د خلقو د نظر نه لرے) بیا به اوبهٔ لره راؤړے شوے او هغه به په هغې سره استنجاء کوله[1].

---

[1] : نووی رحمه الله وائی دد ے احادیثو نه څو مسائل اووتل. یو خو دا چه دحاجت دپاره لرے تلل پکار دی د خلقو د نظر نه لرے. دویمه دا چه کوم سړی فضیلت لری هغه د خپلو ملګرو نه د چا نه څهٔ کار اخستلے شي. دریمه دا چه خدمت د خاوندانو د فضیلت او

بَاب الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

عَنْ هَمَّامٍ قَالَ بَالَ جَرِيرٌ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ فَقِيلَ تَفْعَلُ هٰذَا فَقَالَ نَعَمْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ قَالَ الْأَعْمَشُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ كَانَ يُعْجِبُهُمْ هٰذَا الْحَدِيثُ لِأَنَّ إِسْلَامَ جَرِيرٍ كَانَ بَعْدَ نُزُولِ الْمَائِدَةِ

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْتَهَى إِلَى سُبَاطَةِ قَوْمٍ فَبَالَ

باب: په موزو باندے د مسح کولو بیان[1]

د همّامؓ نه روایت دے. جریرؓ متیازے اوکړے بیائے اودس اوکړو او مسح ئے اوکړه په موزو باندے. خلقو اووے ته داسے کوے هغوی اووی. آو. ما رسول اللهﷺ لره اولیدو چه متیازے ئے اوکړے بیائے اودس اوکړو او مسح ئے اوکړه په دواړو موزو باندے. اعمش وائی ابراهیم ویلی دی. خلقو ته دا حدیث ډیر ښکلے معلومیدو. ولے چه جریرؓ سوره مائدے د نازلیدو نه پس مسلمان شوے وو[2].

د حذیفهؓ نه روایت دے. د رسول اللهﷺ سره وم. هغه د یو قوم ډیران ته اورسیدو نو په ولاړے ئے متیازے اوکړے. زۀ لرے شوم. هغوی

صالحینو مستحب دے. څلورمه دا چه په اوبو سره استنجاء کول مستحب دی. او صرف په ګټه باندے د قناعت کولو نه غوره دی. او خلقو اختلاف کړے دے په دے مسئله کښ لیکن جمهور سلف او خلف او خاوندان د فتوی په دے طرف تلی دي چه په لوټه سره استنجا کول او بیا په اوبو سره وینځل غوره دی. او ابن حبیب مالکی رحمه الله ویلی دی چه لوټے کافی نۀ دی مګر په هغه صورت کښ کله چه اوبۀ نۀ ملاویږی. او بعضے علماؤ د هغه احادیثو نه استدلال کړے دے چه په لوښی سره اودس کول غوره دی. د حوض یا تالاب د اودس کولو نه. مګر دا استدلال مقبول نۀ دے. قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی دد ے قول څۀ اصل نشته. او نۀ د رسول الله نه دا امر منقول دے. چه هغه حوض موندلے وی. بیائے هغه پریخودے وی. او په لوښی سره ئے اودس اختیار کړے وی.

[1]: امام نووی رحمه الله ویلی دی چه عالمانو اجماع کړے ده. چه په موزو باندے مسحه جائز ده په سفر او حضر دواړو کښ برابره خبره ده که ضرورت وی یا نۀ وی. او نۀ دے اختلاف کړے په دی کښ هغه چا چه د هغوی اعتبار وی. البته شیعه او خوارجو دد ے نه انکار کړے دے. او د هغوی د اختلاف څۀ اعتبار نشته. د امام مالک رحمه الله نه په دے کښ څو روایتونه دی. او مشهور روایت د جمهورو موافق دے. او د موزو مسح لره ډیرو صحابو نقل کړے دے. حسن بصری رحمه الله ویلی دی ماته اویاؤ صحابو کرامو رضی الله عنهم ویلی دی چه رسول الله صلّی الله علیه وسلم په موزو باندے مسح کوله. او دغه قول دے د حضرت عمر او ایوب انصاری رضی الله عنهما. او یو جماعت د تابعینو رحمهم الله په دے طرف تلی دی چه مسح غوره ده. او دویم روایت دا دے چه دواړه برابر دی. او ابن منذر دغے لره اختیار کړے دے. او حکم رحمه الله او شعبی رحمه الله او حماد رحمه الله وائی چه مسح غوره ده. او د احمد رحمه الله نه په دے باب کښ دوه روایتونه دی. صحیح دا ده چه مسح غوره ده.

[2]: او په سورة مائده کښ د اودس ایت دے. چه په هغے کښ د خپو د وینځلو حُکم دے. اوس که چرے جریر رضی الله عنه د دغه سورة د نازلیدو نه مخکښ مسلمان شوے وی. نو دا ګمان به کیدے شو چه هغه حدیث د سورة مآئدے په ایت سره منسوخ شوے وی. او هر کله چه هغه دد ے د نازلیدو نه پس اسلام راوړے دے. نو دا ګمان هیڅ کله نۀ شی چلیدے. او په سنن بیهقی کښ د ابراهیم بن ادهم رحمه الله نه روایت دی. هغوی ویلی دی ما د موزو په مسح کښ د جریر رضی الله عنه د حدیث نه غوره حدیث نۀ دے اوریدلے.

قَائِمًا فَتَنَحَّيْتُ فَقَالَ ادْنُهْ فَدَنَوْتُ حَتّٰى قُمْتُ عِنْدَ عَقِبَيْهِ فَتَوَضَّأَ فَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ

اوفرمايل نږدے راشه! زهٔ نږدے ورغلم تردے پورے چه د هغوی د پږکو سره اودريدم. هغهٔ بيا اودس اوکړو او په موزو نے مسح اوکړه[1].

[1] نووی رحمه الله ويلی دی. علماؤ په دے حديث کښ څو وجهے بيان کړی دی. يو خو هغه کوم چه د شافعی رحمه الله نه منقول دے. چه د عربو خلقو به د ملا د درد علاج په ولاړے د متيازو کولو سره کوو. او مونږ دا ګنړو چه رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د ملا د درد په وجه سره داسے کړی وی. دويمه وجه داده چه هغے لره بيهقی په ضعيفو اسنادو سره نقل کړے ده. چه د هغهٔ د زنګونانو د تهٔ درد وو دريمه وجه داده چه هغهٔ ته د کيناستو ځائے نه ميلاويدو. ځکه هغه د ناچارئ په وجه ولاړ پاتے شو. امام ابو عبد الله مازری رحمه الله او قاضی عياض رحمه الله يوه څلورمه وجه بيان کړے ده چه په ولاړے متيازو کولو کښ د لويو بَولو د نهٔ وتلو اطمينان وی ، خلاف د کيناستلو. او په دغه واسطه حضرت عمر رضی الله عنه ويلی چه په ولاړے متيازے کول دُبُر لره اودرَولے ساتی د پلېتئ د وتلو نه. او يوه پنځمه وجه هم کيدے شی هغه داده چه هغه په ولاړے متيازے ددے دپاره کړے وی. چه ددے جواز معلوم شی. مګر يو ځل نے داسے اوکړو. او هميشه عادت مبارک د هغوی دا وو چه په ناستی به نے متيازے کولے. د حضرت عائشے رضی الله عنها د حديث نه دا امر ثابت دے. هغوی ويلی دی چه څوک تاسو ته اووائی چه رسول الله په ولاړے متيازے کړی دی نو هيڅ کله مهٔ منئ: هغهٔ هميشه په ناستے متيازے کولے. روايت کړے دے دے لره احمد بن حنبل رحمه الله او ترمذی او نسائی ډيرو خلقو او اسناد ددے غوره دی. او په ولاړے د متيازو کولو په ممانعت کښ څو حديثونه مروی دی. هغه ثابت نهٔ دی. خو د عائشے رضی الله عنها دا حديث ثابت دے. نو په دغه وجه علماؤ ويلی دی چه په ولاړے متيازے کول مکروهه دی. کچری عذر نهٔ وی. او دا کراهت تنزيهی دی نهٔ تحريمی ابن منذر په اغراق کښ ليکلی دی چه علماؤ اختلاف کړے دے په ولاړے متيازو کولو کښ. نو د حضرت عمر او زيد بن ثابت او ابن عمر او سهل بن سعد رضی الله عنهم نه دا امر ثابت دے چه هغوی په ولاړے متيازے کړی دی. او دغه شان منقول دے د انس او علی او ابوهريره رضی الله عنهم نه او دغه شان ويلی دی ابن سيرين رحمه الله او عروه ابن زبير رضی الله عنهم او ابن مسعود رضی الله عنه او شعبی رحمه الله او ابراهيم بن سعد رحمه الله دے لره مکروه ګنړلی دی. او ابراهيم بن سعد رحمه الله به د هغه سړی ګواهی نه قبلوله چه هغهٔ به په ولاړے متيازے کولے. په دے مسئله کښ يو دريم قول بل دے هغه دا چه کهٔ چرے د متيازو ځائے داسے وی چه د هغے نه د متيازو د څاڅکو دارے کيږی نو په ولاړه متيازے مکروه دی او کهٔ د دارو يره نهٔ وی نو مکروه نهٔ دی. د امام مالک دغه قول دے. ابن منذر ويلی دی متيازے په ناستے کول غوره دی. او په ولاړے هم صحيح دی. او دا تول ثابت دی د رسول الله ﷺ نه ختم شو کلام د ابن منذر رحمه الله. ليکن د يو قوم په ډيران راتل د متيازو دپاره نو دا به ددے وجے نه وی چه هغه خلق به ددے نه بد نهٔ ګنړی بلکه هغوی خوشحاليږی. او کوم سړے چه په هغے ناراضه نهٔ وی د هغهٔ په زمکه کښ متيازے کول يا د هغے نه خوراک کول صحيح دی. او د هغے ډير مثالونه دی. يا هغه ډيران خاص د هغه قوم نهٔ وی. بلکه د ټولو کورونو په صحن کښ مشترک وی. ليکن د هغوی کورته نږدے وی. په دے وجه سره د هغوی په طرف نسبت شوے وی. او دا چه هغوی په کوم ډيران متيازے اوکړے. او لرے نے تشريف يونړه. حالانکه د هغهٔ عادت دا وو چه د حاجت دپاره به لرے تلو. نو قاضی عياض ددے دا وجه بيان کړے ده. چه هغه د خلقو په پوهه کولو کښ يا به هغه په خپلو کارونو کښ مصروف وو. ناڅاپه هغهٔ ته د متيازو حاجت اوشو. او دغه وخت لرے تلل ممکن نهٔ وو په دے وجه هغه ډيران ته وراغلو. (نووی رحمه الله).

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ كَانَ أَبُو مُوسَى يُشَدِّدُ فِي الْبَوْلِ وَيَبُولُ فِي قَارُورَةٍ وَيَقُولُ إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَ إِذَا أَصَابَ جِلْدَ أَحَدِهِمْ بَوْلٌ قَرَضَهُ بِالْمَقَارِيضِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ لَوَدِدْتُ أَنَّ صَاحِبَكُمْ لَا يُشَدِّدُ هٰذَا التَّشْدِيدَ فَلَقَدْ رَأَيْتُنِي أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَمَاشَى فَأَتَى سُبَاطَةً خَلْفَ حَائِطٍ فَقَامَ كَمَا يَقُومُ أَحَدُكُمْ فَبَالَ فَانْتَبَذْتُ مِنْهُ فَأَشَارَ إِلَيَّ فَجِئْتُ فَقُمْتُ عِنْدَ عَقِبِهِ حَتَّى فَرَغَ

د ابو وائل نه روايت دے . ابوموسیٰؓ به زياته سختی كوله په متيازو كښې. هغهٔ به متيازے كولے په يوه شيشه كښې او ويل به ئے چه په بنی اسرائيلو كښې به هر كله د چا په بدن متيازے اولګيدے نو هغوی به خرمن په قينچو سره خروله حذيفهؓ اووے زهٔ غواړم چه ابوموسیٰؓ داسے سختی نه كولے نو غوره به وه. زهٔ د رسول اللهﷺ سره روان وم. هغه د يو قوم په ډيران باندے راغے د ديوال شاته هغه اودريدو څنګه چه په تاسو كښې څوک اودريږی بيائے متيازے اوكړے زهٔ لرے لاړم. هغوی راته اشاره اوكړه، نږدے راشه نږدے پورې چه زهٔ د هغهٔ پوندو په خوا كښې اودريدم. د كومے پورے چه هغه د متيازو نه فارغ شوے نهٔ وو[1]

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ خَرَجَ لِحَاجَتِهِ فَاتَّبَعَهُ الْمُغِيرَةُ بِإِدَاوَةٍ فِيهَا مَاءٌ فَصَبَّ عَلَيْهِ حِينَ فَرَغَ مِنْ حَاجَتِهِ فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ رُمْحٍ مَكَانَ حِينَ حَتَّى

د مغيره بن شعبهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ د حاجت دپاره اووتلو. په هغهٔ پسے مغيرهؓ د اوبو لوټه پلاس لاړو. او هر كله چه هغه د حاجت نه فارغ شو نو اوبهٔ ئے واچولے په هغه باندے (يعنی د اوداسهٔ په وخت) بيائے اودس اوكړو او مسح ئے اوكړه په موزو باندے. د ابن رمح په روايت كښې داسے دی چه اوبهٔ ئے واچولے هغهٔ ته تردے پورے چه هغه فارغ شو د حاجت نه (يعنی اودس نه)

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعْدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ

بل روايت په همدے سند سره د يحیٰ بن سعدؓ نه راغلے دے او

(هغهٔ اوفرمايل نږدے راشه زهٔ نږدے لاړم ، هغوی نږدے په دے خكه رااوغوښتو چه د خلقو نه په ډډه شی. دويم دا چه د هغهٔ غرض متيازے كول وو نه لونی بول. او د دويم حديث نه هم اطمينان وو. خكه په خواته راتلو كښې څهٔ قباحت نهٔ وو (نووی رحمه الله)

تردے پورے چه د هغهٔ د پوندو په خوا كښې اودريدم بيا هغهٔ اودس اوكړو او په موزو ئے مسح اوكړه) نووی رحمه الله وائی دا حديث په ډيرو زياتو فائدو لره راګيرونكے دے. يو خو په موزو باندے مسح كول دويم په حضر كښې مسح جائز كيدل دريم په ولاړے متيازے جائز كيدل څلورم د متيازے كونكې سره د دويم سړی د نږدے كيدو جواز. پنځم د متيازی كونكی بل لره راغوښتل د پردے دپاره. شپږم د پردے كولو استحباب. اووم جواز د متيازو كولو د كورونو په خوا كښې

[1] د حذيفه غرض ددے حديث په بيانولو كښې دا وو چه دومره سختی د ابوموسیٰ رضی الله عنه د سنتو خلاف دی. ولے چه رسول اللهﷺ په ولاړے ولاړے متيازی كړی دی. او د څاڅكو وغيره خيال ئے كړے. او په شيشه وغيره كښې ئے متيازے نهٔ دی كړی. لكه چه ابوموسیٰ رضی الله عنه كوی

فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ مَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ

ويلي دي چه وينځه مخ او لاسونه او مسحه ئے اوکړه په سر او په موزو سره.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ بَيْنَا أَنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ إِذْ نَزَلَ فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ جَاءَ فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ مِنْ إِدَاوَةٍ كَانَتْ مَعِي فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ

د مغيره بن شعبه نه روايت دے. زۀ يوه شپه د رسول الله ﷺ سره وم. هغه راكوز شو و د حاجت نه فارغ شو. بيا هغه راغے. نو ما هغۀ ته اوبۀ د ډول چه څما خوا كښ وو. هغوی اودس اوكړو او مسح ئے اوكړه په موزو[1].

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَقَالَ يَا مُغِيرَةُ خُذِ الْإِدَاوَةَ فَأَخَذْتُهَا ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى تَوَارَى عَنِّي فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ جَاءَ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَامِيَّةٌ ضَيِّقَةُ الْكُمَّيْنِ فَذَهَبَ يُخْرِجُ يَدَهُ مِنْ كُمِّهَا فَضَاقَتْ عَلَيْهِ فَأَخْرَجَ يَدَهُ مِنْ أَسْفَلِهَا فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ فَتَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ مَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ ثُمَّ صَلَّى

د مغيره بن شعبه نه روايت دے. زۀ په سفر كښ د رسول الله ﷺ سره وم هغۀ اوفرمائيل. اے مغيره ! د اوبو مشک راواخله ما راوخستو. او د هغۀ سره اووتم. هغه لاړو تردے پورې چه څما د نظر نه غائب شو. او د حاجت نه چه فارغ شو. بيا واپس راغے. او هغۀ يو چوغه اغوستے وه د شام د تنگ نستونړو. هغۀ اوغوښتل خپل لاسونه د نستونړو نه بهر كول هغه بهر نۀ شو نو هغوی د لاندے نه لاسونه راويستل. بيا ما د اودس اوبۀ واچولے. او هغۀ اودس اوكړو څنگه چه مانځۀ دپاره اودس كوی. بيائے مسح اوكړه په موزو باندے بيائے مونځ اوكړو.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَقْضِيَ حَاجَتَهُ فَلَمَّا رَجَعَ تَلَقَّيْتُهُ بِالْإِدَاوَةِ فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثُمَّ

د مغيره بن شعبه نه روايت دے. رسول الله ﷺ د حاجت دپاره اووتو. هر كله چه واپس شو نو ما د اوبو لوټه راواخسته راغلم او هغه ته اوبۀ واچولے. هغه دواړه لاسونه وينځل. بيائے مخ وينځۀ بيائے

[1]. نووی رحمه الله وائی دد ے حديث نه او د اسامه بن زيد رضی الله عنه د حديث نه دا امر ثابتيږی. چه په اودسۀ كښ د نورو نه مدد اخستل صحيح دی. او په بعضے حديثو كښ دد ے نه ممانعت راغلے دے. ليكن هغه ثابت نۀ دی. زمونږ اصحابو ويلی دی چه دا مدد اخستل په درے قسمه دی. يو خو دا چه په اوبو راوړو كښ د چا نه مدد واخلی. او دا نۀ مكروه دی او نۀ په دے كښ څۀ قباحت دے. دويمه دا چه د اندامونو په وينځلو كښ مدد واخلی يعنی دويم سړے د هغه اندامونه اووينځی دا مكروه دی مگر د ضرورت په وخت جائز دی. دريمه دا چه بل سړے سرف اوبۀ واچوی. د هغے پريخودل اولی دی. كول ئے مكروه دی كۀ نۀ دی نو په دے كښ دوه قولونه دی او هر كله څوک اوبۀ اچوی نو هغه به د اودس كونكی گس طرفته ولاړ وی.

غَسَلَ وَجْهَهُ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَغْسِلَ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَتِ الْجُبَّةُ فَأَخْرَجَهُمَا مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ فَغَسَلَهُمَا وَمَسَحَ رَأْسَهُ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ ثُمَّ صَلَّى بِنَا

لاسونه وینځل خو چوغه تنګه وه. اخر ئې دواړه لاسونه د چوغې لاندې راویستل. او وې وینځل هغې لره او په سر ئې مسح اوکړه او په موزو ئې مسح اوکړه. بیائې زمونږ سره مونځ اوکړو.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي مَسِيرٍ فَقَالَ لِي أَمَعَكَ مَاءٌ قُلْتُ نَعَمْ فَنَزَلَ عَنْ رَاحِلَتِهِ فَمَشَى حَتَّى تَوَارَى فِي سَوَادِ اللَّيْلِ ثُمَّ جَاءَ فَأَفْرَغْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يُخْرِجَ ذِرَاعَيْهِ مِنْهَا حَتَّى أَخْرَجَهُمَا مِنْ أَسْفَلِ الْجُبَّةِ فَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ أَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ دَعْهُمَا فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا

د مغیره بن شعبهؓ نه روایت دے. زهٔ د رسول اللهﷺ سره په یو سفر کښې وم. هغهٔ اوفرمائیل ولې تا سره اوبهٔ شته؟ ما اووے آو. هغه د سورلۍ نه راکوز شو او تلو په تیارهٔ شپه کښې تر دے پورې چه د نظر نه پناه شو. بیا واپس راغې نو ما ورته د لوټې نه اوبهٔ واچولې. هغهٔ مخ اووینځلو. او هغهٔ د وړۍ چوغه اغوستې وه نو لاس ئې د نستونړو نه بهر نهٔ راوتل. هغوی د لاندې نه لاسونو لره راویستل او او وې وینځل. او په سر ئې مسح اوکړه. بیا زهٔ ټیټ شوم د هغوی موزو ویستو ته هغوی اوفرمائیل پریږده. ما دوی لره په طهارت کښې اچولې دی او مسح ئې اوکړه په دواړو[1].

عَنِ الْمُغِيرَةِ أَنَّهُ وَضَّأَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ فَقَالَ لَهُ فَقَالَ إِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ

د مغیرهؓ نه روایت دے هغوی رسول اللهﷺ لره اودس کولو هغهٔ اودس اوکړو او په دواړو موزو ئې مسح اوکړه. مغیره اووے نو هغوی ورته اوفرمایل ما دے لره په طهارت کښې په خپو کړی دی.

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى النَّاصِيَةِ وَالْعِمَامَةِ

باب: په تندی او په پټکی مسح کول

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ تَخَلَّفَ رَسُولُ

د مغیره بن شعبهؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ په سفر کښې ورسته

---

[1]: نووی رحمه الله ویلی دی. علماؤ اختلاف کړے دے په دے مسئله کښې. زمونږ مذهب خو دادے چه د موزو اغوستل په طهارت کامله باندې ئې ضروری دی. تر دے پورے چه کهٔ چا ښے خپه اووینځله او بیائې په خپو کړه او بیائې ګسه خپه اووینځله او موزه ئې په خپو کړه. نو په ښے خپه باندے به مسحه صحیح نهٔ وی. ځکه چه هغه وخت طهارت کامله نوو. اوس د هغې ویستل او دوباره په خپو کول ضروری دی. البته د ښے موزے د ویستلو حاجت نشته. ولې چه ددے د پخپو کولو په وخت طهارت کامل شوے وو. او زمونږ بعضے اصحابو ویلی دی چه د ګسے موزے ویستل هم ضروری دی. او دا قول دے د مالک او حمد او اسحاق او ابوحنیفه او سفیان ثوری او یحیی بن ادم او مزنی او ابو ثور او د داؤد رحمهم الله دا قول دے. چه اغوستلے موزے د ښے اودسے په حالت کښې هم صحیح ده. روسته ددے نه د طهارت کامل کړی (انتهی).

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَخَلَّفْتُ مَعَهُ فَلَمَّا قَضَى حَاجَتَهُ قَالَ أَمَعَكَ مَاءٌ فَأَتَيْتُهُ بِمِطْهَرَةٍ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ وَوَجْهَهُ ثُمَّ ذَهَبَ يَحْسِرُ عَنْ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ كُمُّ الْجُبَّةِ فَأَخْرَجَ يَدَهُ مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ وَأَلْقَى الْجُبَّةَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ وَمَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى خُفَّيْهِ ثُمَّ رَكِبَ وَرَكِبْتُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَوْمِ وَقَدْ قَامُوا فِي الصَّلَاةِ يُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ وَقَدْ رَكَعَ بِهِمْ رَكْعَةً فَلَمَّا أَحَسَّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ فَصَلَّى بِهِمْ فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْتُ فَرَكَعْنَا الرَّكْعَةَ الَّتِي سَبَقَتْنَا

پاتے شو زهٔ هم د هغهٔ سره ورسته پاتے شوم. هر کله چه هغه د حاجت نه فارغ شو نو دا ئے اوفرمائیل. تا سره اوبهٔ شته؟ ما یو مشک واخستو د اوبو نه م ډک راؤړو هغه دواړه لاسه اووینځل او مخ ئے وینځله بیائے ګس لاس لره د نستونړی نه راویستل غوښتل نو نستونړے تنګ وو. هغهٔ د لاندے نه لاس راوویستو. او چوغے لره ئے په خپلو اوګو باندے واچوله. او دواړه لاسونه ئے وینځل. او په تندی باندے ئے مسح اوکړه او په پټکی باندے او په موزو باندے بیا سور شو او زهٔ هم سور شوم. هر کله چه خپلو خلقو ته اورسیدو نو هغوی مونځ کولو او عبد الرحمن بن عوف هغوی لره مونځ کولو. هغوی یو رکعت کړے وو. هغهٔ ته چه کله معلومه شوه چه رسول الله ﷺ تشریف راوړے دے. هغه ورستو کیدلو. حضرت ﷺ اشاره اوکړه په خپل ځائے باندے اودریږه. آخر هغوی مونځ لره اوکړو او سلام ئے اوګرځوو. نو رسول الله ﷺ اودریدو. او زهٔ هم اودریدم. او هغه یو رکعت کوم چه زمونږ نه وړاندے غوے وو هغه مو اوکړو.[1]

---

[1] دا هغه حدیث دے چه دد ے نه د رسول الله ﷺ مونځ لول په خپل صحابی پسے ثابتیږی. علماؤ ویلی دی چه هغه سوا د عبد الرّحمن بن عوف نه په بل چا سری پسی مونځ نهٔ دے کړے البته د جبرائیل نه روستو ئے مونځ کړے دے. نووی ویلی دی دد ے حدیث نه ډیرے شان خبرے وتلے کیږی. یو د افضل اقتداء کول د خان نه د کم درجه والاسره. دویم د نبی مونځ کول په خپل ملګری پسے. دریم فضیلت د اول وخت د مونځ د کولو. ولے چه صحابو د هغوی انتظار اونکړو او مونځ ئے شروع کړو. څلورم هر کله چه امام حاضر نهٔ وی نو خلق چا بل لره امام جوړولے شی. په شرط دد ے چه څهٔ اختلاف نهٔ پیدا کیږی او امام پرے خفه نهٔ وی. ګنی تول خلق د په اول وخت کښ خانله خانله مونځ اوکړی او دوباره په جماعت کښ شریک کیدل مستحب دی. پنځم مسبوق د سلام ګرځولو نه پس خپل باقی مونځ پوره کړی. او دا باقی مونځ به خکه کوی ددهٔ د ذمے نه ساقط کیږی نه. البته سورة فاتحه لوستل ساقط کیږی. هر کله چه امام لره په رکوع کښ اوموی. شپږم دا چه مسبوق لره هم د امام تابعداری په رکوع او سجدو او قعده ټولو ارکانو کښ ضروری ده. اګر کهٔ د هغهٔ د قاعدے وخت نه وی. اووم دا چه مسبوق به د امام نه هله جدا کیږی هر کله چه امام سلام اوګرځوی. او عبدا لرّحمن بن عوف چه کوم مونځ اوکړو او د ابوبکر په شان ورستو واپس نهٔ شو دهغے وجه داوه چه عبد الرّحمن بن عوف یو رکعت کړے وو. او ابو بکر یو رکعت هم کړے نهٔ وو. (انتهیٰ)

عَنِ ابْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ وَمُقَدَّمِ رَأْسِهِ وَعَلَى عِمَامَتِهِ

د مغيرهؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ مسح کړے ده په موزو باندے او په اول طرف د سر باندے او په پګړئ باندے[1].

عَنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِهِ

د دويم روايت معنى هم هغه ده چه پورته تيره شوه.

عَنِ الْمُغِيرَةِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَمَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى الْخُفَّيْنِ

د مغيرهؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ اودس اوکړو نو مسح ئے اوکړه په تندى باندے. او په پټکى باندے او په موزو باندے.

عَنْ بِلَالٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ مَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ وَالْخِمَارِ

د بلالؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ مسح اوکړه په موزو باندے او په پټکى باندے.

بَابُ التَّوْقِيتِ فِي الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

باب: په موزو باندے د مسح کولو د مُدے بيان

عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ أَتَيْتُ عَائِشَةَ أَسْأَلُهَا عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَتْ عَلَيْكَ بِابْنِ أَبِي طَالِبٍ فَسَلْهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُسَافِرُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْنَاهُ فَقَالَ جَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ قَالَ وَكَانَ سُفْيَانُ إِذَا ذَكَرَ عَمْرًا أَثْنَى عَلَيْهِ

د شريح بن هانى نه روايت دے زهٔ د حضرت عائشےؓ خواله راغلم. د هغے نه د موزو د تپوس دپاره هغوى اووے تهٔ د ابوطالب د خوئ (يعنى حضرت علىؓ) نه تپوس اوکړه. هغه به د رسول اللهﷺ سره سفر کولو. ما د هغهٔ نه تپوس اوکړو. هغوى اووے د مسافر دپاره د مسح موده رسول اللهﷺ درى ورځے او درے شپے مقرر کړے ده. او د مقيم دپاره يوه ورځ او يوه شپه. راوى ويلى دى چه هر کله به سفيان د عمرو ذکر کوو نو د هغهٔ تعريف به ئے کولو[2].

---

[1] په پټکى باندے مسحه کول صحيح دى. او د هغے کوزول ضرورى نهٔ دى د رفع حرج دپاره داخل د اهل حديثو دغه قول دے. او د بعضے ديرو غير مقلدينو علماؤ په نزد په پټکى باندے مسحه جائز نهٔ ده. د کومے پورى چه په سر باندے لاس رانهٔ کاړى.

[2] نووى رحمه الله ويلى دى د جمهور علماؤ دغه قول دے. لکه ابوحنيفه او شافعى او احمد او د امام مالک رحمهم الله مشهور قول دادے چه د مسح مُوده څهٔ مقرر نهٔ ده. د څومره ورځ پورے چه غوارى مسح کولے شى. او دا يو قول قديم دے د شافعى رحمه الله د هغهٔ دليل د ابن ابى عماره حديث دے. چه ابوداؤد روايت کړے دے. ليکن هغه حديث په اتفاق د علماؤ ضعيف دے. اوس د اکثرو علماؤ دا قول دے. چه نهٔ دا موده د موزے د پخپو کولو نه پس د بے اودسے د وخت نه شروع کيږى. نهٔ د موزے د پخپو کولو د وخت نه او نهٔ د مسح د وخت نه کهٔ چرے د مودے د تيريدو نه وړاندے د لمبلو حاجت راغلے نو په موزے باندے به مسحه جائز نهٔ وى. زمونږ د ملګرو په نزد. يا کهٔ چرے غسل اوکړى او دواړه خپے د موزو په دننه اووينځى نو جنابت به ختم شى. او مونځ به پر جائز کړے شى. اوس کهٔ چرے دد ے نه پس بے اودسه شى نو په موزو باندے مسح صحيح نهٔ ده. څکه چه په موزو باندے مسح هغه وخت صحيح ده. هر کله چه په طهارت

بَابٌ جَوَازِ الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ

عَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الصَّلَوَاتِ يَوْمَ الْفَتْحِ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ لَقَدْ صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهُ قَالَ عَمْدًا صَنَعْتُهُ يَا عُمَرُ

باب: په يو اوداسهٔ سره د څو مونځونو لوستل

د بريده نه روايت دے رسول الله ﷺ په کومه ورځ چه مکه فتح شوه. په يو اودس سره څو مونځونه کړي وو. او مسح ئے اوکړه په موزو باندے حضرت عمر اووے يا رسول الله ﷺ تا نن هغه کار اوکړو چه چرته د کړے نهٔ وو. هغهٔ اوفرمائيل. ما قصداً داسے اوکړهٔ[1].

کامله باندے په خپو کړے شي. اوس به دے لره اوباسي او طهارت به اوکړي بيا به ئے په خپو کړي. د دے حديث نه دا هم معلومه شوه. چه مفتي ته کهٔ چرے څهٔ مسئله معلومه نهٔ وي نو د بل حواله دِ ورکړي چه هغه په هغے باندے ښهٔ پوهه وي. انتهیٰ

[1]: نووي وائي د دے حديث نه څو خبرے معلومے شوے. يو خو په موزو باندے مسح کول. دويم فرض مونځونو لره په يو اودس سره کول د کومے پورے چه حدث نهٔ وي. او دا جائز دي په اجماع د علماؤ. او امام ابوجعفر طاوي او ابوالحسن بن بطال د صحيح بخاري په شرح کښ د يو جماعت د علماؤ نه د دے خلاف نقل کړے دے. د هغوي په نزد د هر يو فرض مانځهٔ دپاره تازه اودس ضروري دے. اگر کهٔ اودس وي او دليل د هغوي دا قول دے د الله تعالیٰ اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ الآيه او د جمهورو دليل احاديث صحيحه دي. يو د هغے نه دا حديث دے. او يو حديث د انس رضی الله عنه دے په صحيح بخاري کښ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به د هر مانځهٔ دپاره اودس کولو. او مونږ خلقو لره يو اودس کافي کيدي د کومے پورے چه بے اودسه شوے نهٔ وي. دويم حديث د سويد بن نعمان رضی الله عنه دے. په صحيح بخاري کښ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د مازيگر مونځ اوکړلو. بيائے ستوان خوړل او د ماښام مونځ ئے اوکړلو او اودس ئے او نهٔ کړلو. د دے په تائيد کښ نور ډير احاديث راغلي دي لکه د حديث جمع کول په عرفه او مزدلفه کښ. او په تولو سفروو کښ. او حديث د تولو مونځونو د جمع کولو په خندق کښ يعني د خندق په جنگ کښ. او د ايت کريمه نه مراد دا دے چه هر کله تاسو بے اودسه شئ او د مانځهٔ دپاره پاڅئ نو مخ وينځئ د اخره پورے. او بعضو ويلي دي چه دا ايت منسوخ دے. د رسول الله صلی الله عليه وسلم په فعل سره. او دا قول ضعيف دے. زمونږ ملگرو ويلي دي چه د هر مانځهٔ دپاره نوے اودس کول د اوداسهٔ سره سره مستحب دي او په دے کښ څو قولونه دي يو خو دا چه په هغه اودس سره څهٔ مونځ ضرور اوکړي خواه کهٔ فرض وي يا نفل وي. دويمه دا چه تازه اودس په هغه صورت کښ مستحب دے. هر کله چه په هغے سره څهٔ فرض مونځ کوي. دريمه دا چه په هغه اودس سره هغه کار کوي چه هغه بغير د طهارت نه صحيح نهٔ وي. لکه د قرآن ښکلول او سجده د تلاوت کول. څلورمه دا چه په هر حال کښ مستحب دے. اگر چه په هغے سره څهٔ کار نهٔ کوي. په شرط د دے چه د ورمبي اودس په نور حال کښ دومره وخت تير شي چه د هغے په وجه سره دويم اودس د اولني اودس نه جدا شي. او تازه غسل کلو مستحب نهٔ دي. موافق د صحيح مذهب او امام الحرمين يو قول د استحباب نقل کړے دے. اودغه شان په تازه تيمم کولو کښ دوه قولو نه دي. يو دا چه مستحب نهٔ دے او دغه زيات مشهور دي. او دا تازه تيمم د زخمي يا د بيمار دپاره وي. چه هغه د اوبو په موجود کيدو سره سره تيمم کوي. او د هغه نه سوا د بل دپاره هم کيدے شي. هر کله چه دوباره لتون د اوبو واجب نهٔ وي چرته او دا چه کوم حضرت عمر رضی الله عنه اووے. تا هغه کار اوکړو چه چرته دِ نهٔ وو کړے. د دے نه معلوميږي چه اکثر به رسول الله دپاره د هر مانځهٔ نوي اودس کولو. خکه غوره دے. او په هغه ورځ چه ئے څو مونځونه په يو اودس سره اوکړل د دے نه د جواز بيانول مقصود وو. لکه چه هغه عمر رضی الله عنه

بَابُ كَرَاهَةِ غَمْسِ الْمُتَوَضِّئِ وَغَيْرِهِ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ قَبْلَ غَسْلِهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْرِغْ عَلَى يَدِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَ يَدَهُ فِي إِنَائِهِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِيمَ بَاتَتْ يَدُهُ

باب: د اُوبو په لوښي کښې لاس منډل د دینځلو نه مخکښې مکروه دي

د ابو هريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر كله چه ستاسو نه څوك د خوب نه پاسي نو خپل لاس د په لوښي كښې (يعنې د اوبو په لوښي كښې) نهٔ منډي د كومے پورې چه ئے درے خله وينځلي نه وي. ولے چه معلومه نهٔ ده چه په كوم ځائے شپه تيره كړے ده لاس ددهٔ[1]

د حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر كله چه ستاسو نه څوك ويخ شي نو په خپل لاس د درے خله اوبهٔ غورځوي. ځكه چه دهٔ ته معلومه نهٔ ده چه كوم ځائے شپه تيره كړے ده لاس ددهٔ[2]

ته لوفرمايل ما قصداً دا كار كړے دے. ددے حديث نه دا هم معلوميږي چه د كمے درجے والاد لوئے درجے والانه سوا كولے شي د هغه كارونو چه د عادت خلاف وي. ځكه چه كله د امر د هيريدو نه كيږي نو هغهٔ ته ياد شي دهغه سوال په وجه سره. انتهٰى.

[1] امام شافعيؒ وئيلي دي د عربو عادت وو چه هغوي به په لوټو سره استنجاء كوله او د هغوي ملك ګرم وو. په اودهٔ كيدو كښې به پرے خوله راتله ځكه احتمال وو چه لاس پليت شوے وي. او ددے حديث نه څو مسئلے وتلي دي يو خو دا چه كهٔ په لږو اوبو كښې پليتي لوغورځيږي نو هغه پليتيږي. دويمه دا چه اووه خله وينځل د يوے پليتي ضروري نهٔ دي سوا د سپي د څټلي شوي لوښي نه. دريمه دا چه د استنجا مقام په لوټي سره نهٔ پاكيږي. بلكه معاف دے مونځ په هغے سره. څلورمه دا چه د پليتي درے خله وينځل ضروري دي. يعنې د پليتي متحققے او متوهمه درے خل وينځل مستحب دي. پنځمه دا چه د نجاست متوهمه وينځل مستحب دي صرف اوبه اچول پرے كافي نهٔ دي. شپږمه دا چه په عباداتو كښې احتياط كول مستحب دي. په دے شرط چه دا احتياط د وسوسے د درجے پورے لونهٔ رسي. لوس جمهور علماء په دے طرف تلي دي. چه دا دلاس منډلو ممانعت تنزيهي دے نهٔ تحريمي. په كوم صورت كښې چه د نجاست يقين نهٔ وي او كهٔ چرے لاس اومنډي نو اوبهٔ نهٔ پليتيږي. او د حسن بصريؒ نه منقول دي چه پليتيږي كهٔ چرے د شپے د خوب نه پاسيدلے وي. او د اسحٰق بن راهويه او د محمد بن جرير طبري رحمهما الله نه هم منقول دي. ليكن دا قول ضعيف دے. ولے چه اصل په لوبو اولاس دواړو كښې طهارت دے. بيا د شك نه هغه نجس كيدے نهٔ شي. او دا اودهٔ كيدل پاڅيدل زمونږ په نزد د اودهٔ كيدو سره مخصوص نهٔ دي بلكه هر كله چه اودهٔ شي او پاځي او د نجاستؒ شك ئے وي. يائے بغير د اودهٔ كيدو نه د نجاست ګمان وي. نو په لوښي كښې به بغير د لاس اينخلو نه لاس نهٔ منډي او د امام احمدؒ نه دا روايت دے. چه كهٔ چرے د شپے د خوبؒ نه پاسيدلے دے. نو لاس منډل مكروه تحريمي دي او كهٔ د ورځے د خوب نه پاسيدلے دے نو مكروه تنزيهي دي. او د داؤد ظاهريؒ هم دغه قول دے. انتهٰى

[2] دا كنايه ده يعنې په دبّر يا په ذكر باندے وو. او كنايه په داسے خايونو كښې زياته فصيح ده. او په قرآن او حديث كښې ددے ډير مثالونه دي. دا هله دي چه په لاس د پليتي ګمان وي. كهٔ چرے په لاس د طهارت يقين وي. بيا هم لاس وينځل او په لوښي كښې منډل

بَاب حُكْمِ وُلُوغِ الْكَلْبِ

باب: د سپي د جوټې د غورځولو بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيُرِقْهُ ثُمَّ لِيَغْسِلْهُ سَبْعَ مِرَارٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي. هر کله چه سپے خلهٔ اووخي ستاسو نه په يو لوښي کښې او اوڅکي نو تويه وئ هغے لره. او بيا اووه ځله وينځئ هغے لوښي لره.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَلَمْ يَقُلْ فَلْيُرِقْهُ

د اعمش نه په دے سند سره هم داسے روايت دے خو په هغے کښې د اوبو د تويه ولو ذکر نشته.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله چه سپے ستاسو په لوښي کښې اوڅکي. نو هغے لره اووهٔ ځله وينځل پکار دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طُهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ فِيهِ الْكَلْبُ أَنْ يَغْسِلَهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ أُولَاهُنَّ بِالتُّرَابِ.

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي ستاسو د لوښي پاکي هر کله چه سپے په هغے کښې خلهٔ اومنډي او اوڅکي داده چه هغے لره اووهٔ ځله اووينځئ او په اولنی ځل ئے په خاورے سره اومږئ.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طُهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِيهِ أَنْ يَغْسِلَهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ

د همام بن منبه نه روايت دے. دا حديثونه مونږ ته ابوهريرهؓ بيان کړي دي د رسول الله ﷺ نه. د هغے نه يو حديث دا هم وو. چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. ستاسو نه د چا د لوښي پاکي هر کله چه سپے په هغے کښې اوڅکي داده. چه هغے لره اووهٔ ځله اووينځئ[1].

غوره دي. او صحيح داده چه په دغه صورت کښې لاس منډل د وينځلونه مخکښې مکروه نهٔ دي کهٔ چرے لوښے دومره لوئے دے چه لاس په اوبو کښې منډل ممکن نهٔ وي. نو په خله سره دِ تر نه اوبهٔ راواخلي او لاس دِ اووينځي. يا کهٔ چرے دا هم نهٔ شي کولے نو په پاکے کپړے سره دِ را اوباسي يا په بل څهٔ مدد سره دِ اوبهٔ راواخلي.. (نووي رحمه الله)

[1] ددے احاديثو نه معلوميږي. چه سپے نجس دے. او د هغهٔ لعاب اوخلهٔ ناپاکه ده. د جمهورو علماؤ دغه قول دے او د عکرمه رضى الله عنه او مالک رحمه الله نه يو روايت داد ے چه سپے پاک دے او دليل د هغوی داد ے چه الله تعالى فرمائي " خورئ تاسو هغه کوم چه ښکاريان سپي اونيسي ستاسو دپاره " او ظاهره ده چه د سپي لعاب د جانور په نيولو کښې په هغهٔ ضرور لګي مګر دا

عَنِ ابْنِ الْمُغَفَّلِ قَالَ أَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ ثُمَّ قَالَ مَا بَالُهُمْ وَبَالُ الْكِلَابِ ثُمَّ رَخَّصَ فِي كَلْبِ الصَّيْدِ وَكَلْبِ الْغَنَمِ وَقَالَ إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الْإِنَاءِ فَاغْسِلُوْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ وَعَفِّرُوْهُ الثَّامِنَةَ فِي التُّرَابِ وَ فِي رِوَايَةِ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ مِنَ الزِّيَادَةِ وَرَخَّصَ فِي كَلْبِ الْغَنَمِ

د عبد الله بن مغفل مزنی ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو د سپو د وژلو. بیائے اوفرمایل څۀ دے حال د هغوی او حال د سپو. بیائے اجازت ورکړو د ښکاری سپی او د رمے د ساتلو د سپی (یعنی د چیلو او د ګډو د حفاظت دپاره) او اوئے فرمایل هر کله چه سپے په لوښی کښ خلۀ اومنډی او اوڅکی. نو هغه لوښے اووۀ خله وینځئ او په اتم ځل ئے په خاورے سره مږئ[1]. د یحیٰی بن سعید په روایت کښ دومره زیاته ده. او رخصت وکړو هغۀ د بزو د سپی او د

دلیل قوی نۀ دے. ځکه چه د ښکار د مباح کیدو نه خاص هغه ځائے کوم ځائے چه سپے خلۀ اولګوی طهارت نۀ ثابت کیږیٓ. دویم دلیل دا دے چه روایت کړے دے ترمذی او ابوداؤد د ابن عمر رضی الله عنه نه. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ به سپی جماعت ته تلل راتلل او متیازے به ئے کولے لیکن چا به پرے اوبۀ نۀ اچولے. د هغے جواب دا دے چه د تلو راتلو نه د هغۀ طهارت نۀ شی ثابتیدے اوس پاتے شوے متیازے د هغۀ نو هغه خو په اجماع سره نجس دی. او د جماعت د نۀ وینځلو وجه به دا وی چه د متیازو ځائے به معلومیدے نۀ شو. یا د دے وجے نه چه زمکه وُچه شی نو هغه پاکه شی. یا دا حکم په ابتدائے اسلام کښ وو. او د هغےٓ نه پس د جُماعتنو د صفایئ او پاکیزګئ حکم شوے وی. دریم دلیل دا دے چه وړاندے کوم حدیثونه راغلی دی په هغے کښ د سپی د ساتلو اجازت ورکړے دے. د هغے جواب دا دے چه د پاللو په اجازت سره د هغۀ طهارت نۀ شی لازم کیدے. د هغه حدیثونو نه دا هم معلومیږی چه سپی په کوم لوخی کښ خلۀ منډلی وی او څکل ئے کړی وی د هغه لوښی اووۀ خله وینځل لازمی او ضروری دی او دغه قول دے د ابن عباس او عُروه رضی الله عنهما او ابن سیرین او طاؤس او عمرو بن دینار او اوزاعی او مالک او شافعی او احمد بن حنبل او اسحق بن راهویه او ابوثور او ابوعبید او د داؤد رحمهم الله. او خلاف کړے دے د هغے ابوحنیفه رحمه الله او قیاس کړے دے دے لره په نجاستونو. حالانکه دا قیاس دے په مقابله د نص. او دلیل ئے راوړے دے د طحاوی رحمه الله او دارقطنی د روایت نه چه ابوهریره رضی الله عنه ویلی دی چه د سپی د خلے اچولو سره درے خله وینځل پکار دی. حالانکه احتمال دے چه ابوهریره رضی الله عنه په هیره سره داسے ویلی وی. اووۀ خله وینځلو لره هغه مستحب ګڼړی او درے خلو لره واجب ګڼړی او د ابوهریره رضی الله عنه نه دا هم ثابت دی. چه هغوی د اووۀ خله وینځلو حکم کړے دے. بهر حال د ابوهریره دا قول د احادیث صحیحه مرفوعه مقابل کیدے نشی (نیل الاوطار). نووی رحمه الله ویلی دی زمونږ په نز د سپی متیازے او لوئے بول یا وینه او خلۀ کۀ چرے اولګی نو د هغے هم دا حکم دے. چه اووۀ خله به ئے وینځی او یو ځل به ئے په خاورے سره مږی.

[1] نووی رحمه الله ویلی دی زمونږ مذهب او د جمهور علماؤ مذهب دا دے چه اووۀ خله به ئے وینځی. او په هغے کښ به یو ځل خاوره ملاوه وی او وینځی به ئے. او چونکه خاوره یو جدا چیز دے. لکه چه اتم ځل شو. او راز د دغه قدرے احتیاط د سپی په جوته کښ دا دے چه بعضے سپے زهریلا وی او بعضے لیونے وی. نو په اووۀ خله وینځلو کښ باکل د لوښی نه اثر ختمیږی. دا نۀ د چه نجاست د هغۀ د نورو نجاستونو نه زیات دے. ولے چه جمهور د سپی نه هم زیات نجس دے خو په هغۀ کښ نشته.

وَالصَّيْدِ وَالزَّرْعِ

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْبَوْلِ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ مِنْهُ

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبُلْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لَا يَجْرِي ثُمَّ تَغْتَسِلُ مِنْهُ

ښکاری د سپی او د پټی د ساتونکی سپی[1].

باب: په ولاړو اُوبو کښې د متيازو کولو ممانعت

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ منع کړے ده. په ولاړو اُوبو کښې د متيازو کولو نه

د ابو هريرهؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ فرمائيلی دی. څوک د ستاسو نه په ولاړو اُوبو کښې متيازے نۀ کوی. او دا د هم نۀ کوی چه متيازے اوکړی په کښې او بيا پکښې غُسل اوکړی.

همام بن مُنَبّه ويلی دی دا هغه حديثونه دی چه مونږ ته ابوهريرهؓ د رسول اللهﷺ نه نقل کړی دی. بيائے څو حديثونه بيان کړل په هغے کښې يو دا هم وو چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی داسے مۀ کوه چه متيازے کوے نو په ولاړو اُوبو کښې چه هغه بهيدونکی نۀ وی. او بيا غسل کوے په هغه اُوبو سره[2].

[1]: نووی ويلی دی زمونږه ملګرو اتفاق کړے دے چه بغير د ضرورت نه سپے ساتل حرام دی. لکه چه څوک پالی د هغۀ صورت غوره کوی يا د نمائش او زيبائش دپاره نو دا حرام دی. بلا خلافه. ليکن د ضرورت دپاره ساتل صحيح دی. او په دے حديث کښې خو د دريو کارنو دپاره اجازت دے يو دښکار دپاره ، دويم د څناورو د حفاظت دپاره، دريم دپټی د حفاظت دپاره. دد ے دريو کارونو دپاره خو د تولو په تړ صحيح دے. البته اختلاف دے. چه د کورونو د حفاظت دپاره دد ے ساتل صحيح دی يا نۀ دی. او صحيح دادے چه صحيح دی. او سپے کنچړے چيچلو والاوی نو هغه لره وژنی. او کۀ چيچلو والا نۀ وی نو مۀ ئے وژنئ. امام الحرمين رحمه الله ويلی دی چه د سپو د قتل حديث منسوخ دے. دغه شان د تور سپی د قتل. انتهٰی مختصراً

[2]: نووی ويلی دی دا ممانعت په بعضے اُوبو کښې خو تحريماً دے او په بعضو کښې کراهتًا دے. او دد ے حديث نه اوخی. چه کۀ چرے اُوبۀ ډيرے وی او بهيږی. نو په هغے کښې متيازے کول حرام نۀ دی. ليکن غوره داده چه نۀ کوی. او کۀ چرے اوبۀ لږے وی او بهيږی نو زمونږ د ملګرو نه يو جماعت ويلی دی چه په هغے کښې متيازے کول مکروه دی. او مختار دادے چه حرام دی. ولے چه هغه اُوبۀ به پليتے کړے شی. موافق د مشهور مذهب شافعی او بل به دهوکه کيږی هغه به دے لره استعمالوی. او کۀ چرے اوبۀ ډيرے وی. ليکن ولاړے وی. نو زمونږ د ملګرو په تړ په هغے کښې متيازے کول مکروه دی. ليکن حرام نۀ دی. او کۀ چرے حرام هر کله هم کيدے شی ولے چه نهی د تحريم دپاره ده. او هغه اُوبۀ به د حَنَفيو په تړ پليتی شی. په هغه صورت کښې چه دومره لوئے حوض نۀ وی چه د يوے غاړے په خوزولو سره دويمه غاړه خوزيږی. او کومے اُوبۀ چه لږے وی په هغے کښې متيازے کول مکروه دی. ليکن صحيح دا ده. چه په هغے کښې متيازے کول حرام دی. او لويو بولو لره کول هم په مثل د متيازو دی بلکه د هغے نه بدتر دی. يا په څۀ لوښی کښې متيازے

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الِاغْتِسَالِ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغْتَسِلُ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ فَقَالَ كَيْفَ يَفْعَلُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ يَتَنَاوَلُهُ تَنَاوُلًا

باب: په ولاړو اُوبو کښې د غُسل ممانعت

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمائيلي دي ستاسو نه چه چا ته د لمبلو حاجت راشي نو هغه دِ په ولاړو اُوبو کښې نهٔ لامبي.خلقو ابو هريرهؓ ته اووے بيا به څۀ کوي؟ هغوي اوويل . په لاسو سره به اُوبهٔ واخلي او غسل به پرے اوکړي[1]

بَابُ وُجُوبِ غَسْلِ الْبَوْلِ وَغَيْرِهِ مِنَ النَّجَاسَاتِ إِذَا حَصَلَتْ فِي الْمَسْجِدِ وَأَنَّ الْأَرْضَ تَطْهُرُ بِالْمَاءِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ إِلَى حَفْرِهَا

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَامَ إِلَيْهِ بَعْضُ الْقَوْمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعُوهُ وَلَا تُزْرِمُوهُ قَالَ فَلَمَّا

باب: متيازے يا بله څۀ پليتي کۀ چرے په جماعت کښې اوغورځيږي نو هغے لره په اوبو سره وينځل ضروري دي. او زمکه په اُوبو سره پاکيږي د هغے کنستل ضروري نۀ دي

د انسؓ نه روايت دے چه يو اعرابي په جماعت کښې متيازے اوکړے. خلق (د هغۀ د وهلو يا د ويستلو دپاره) پاڅيدو. نو رسول اللهﷺ اوفرمايل مۀ اودروئ متيازے ددۀ . کله چه هغۀ متيازے

لوکړې او بيانے اُوبو ته توئ کړې. يا نهر ته دومره نژدے متيازے او کړي چه اوبهيږي او نهر ته لاړے شي. دا ټولے خبرے منع دي. او په دغے کښې چا عالم خلاف نۀ دے کړے. البته د داؤد ظاهري نه منقول دي چه ممانعت خاص دي د انسان د متيازو سره. او د لويو بولو ممانعت نشته. نۀ په لوښي کښې د متيازو او په هغے کښې د غورځولو . او نۀ اوبو ته نژدے د متيازو کولو ممانعت شته. او علماؤ ويلي دي چه اُوبو ته نژدے لوئي بول متيازے کول مکروه دي. اگر کۀ اُوبو ته لاړ نۀ شي. ولے چه خلق هلته خي راځي نو هغوي ته تکليف وي. او چا چه استنجاء نۀ وي کړي هغه کۀ چرے په اُوبو کښې غوپه لګول غواړي د ستنجاء دپاره او اُوبۀ لږے وي چه په پليتئ غورځيدو سره بيلمازه کيږي نو حرام دي. او کۀ ډيرے وي او بهيږئ نو جائز دي . دغه شان کۀ چرے ډيرے وي او جاري نۀ وي يعني بهيږي نه ليکن په دغه صورت کښې نۀ کول غوره دي. انتهٰي.

[1] : نوويؒ ويلي دي زمونږ د علماؤ په نز په ولاړو اُوبو کښې لامبل مکروه دي. خواه کۀ اُوبۀ لږے وي يا ډيرے دغه شان په روانه چينه کښې شافعي رحمه الله په يوځائے کښې ويلي دي . زۀ مکروه پيژنم د جُنب دپاره غسل کول په کوهي کښې. او په ولاړو اُوبو کښې چه روانے نۀ وي خواه هغه کۀ لږے وي يا ډيرے. او دا کراهت تنزيهي دے تحريمي نۀ دے. او کۀ چرے جُنب داسے په اُوبو کښې غسل اوکړو او هغه اوبۀ د دوو لوټو نه کمے وے نو مستعملے کيږي او د حنفيو په نز چه ددغے نه زياتے وي نو مستعملے به نۀ وي. او مذهب د اهلِ حديثو دادے چه اُوبۀ پاکے دي او پاکونکي دي. د کومے پورے چه د نجاست په وجه سره د هغے مزه يا رنګ يا بوئي بدل نۀ شي. او څۀ فرق نشته په لږو او ډيرو اُوبو کښې خواه کۀ هغه دوه لوټے وي. يا د هغے نه کمے وي. انتهٰي مع زيادة.

فَرِغَ دَعَا بِذَنُوبٍ مِنْ مَاءٍ فَصَبَّهُ عَلَيْهِ
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَذْكُرُ أَنَّ أَعْرَابِيًّا قَامَ إِلَى نَاحِيَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَبَالَ فِيهَا فَصَاحَ بِهِ النَّاسُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعُوهُ فَلَمَّا فَرَغَ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَنُوبٍ فَصُبَّ عَلَى بَوْلِهِ
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَامَ يَبُولُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْ مَهْ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تُزْرِمُوهُ دَعُوهُ فَتَرَكُوهُ حَتَّى بَالَ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ إِنَّ هَذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنْ هَذَا الْبَوْلِ وَلَا الْقَذَرِ إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالصَّلَاةِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ

اوکړے نو هغوی یو بالټے د اُوبو رااوغوختهٔ او په هغے ئے واړولے
انس بن مالک په ذکر کوو چه یو بانډيچے د جماعت په یو گټ کښې متیازے کول شروع کړل. خلق په هغهٔ پسے ورغے. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. پرېږدئ دهٔ لره . هر کله چه هغهٔ متیازے اوکړے نو حضرت ﷺ حکم اوکړو نو د اُوبو یوه لوټه د هغهٔ په متیازو باندے واړولے شوه.[1]
د انس بن مالک نه روایت دے مونږ د رسول الله ﷺ سره په جماعت کښې ناست وو. په دے کښې یو بانډيچے راغے او په جماعت کښې ئے متیازے کول شروع کړل. د رسول الله ﷺ صحابو اووے. هائے هائے څهٔ کوی ؟ هغهٔ ﷺ اوفرمائیل. د هغهٔ متیازے مهٔ بندوئ پرېږدوئ. خلقو پرېخودو تر دے پورے چه متیازے ئے اوکړے. حضرت ﷺ هغهٔ لره رااوغوښتو او اُوئے فرمائیل چه جماعتونه د متیازو او پلیتئ لائق نهٔ دی. دا خو د الله د یاد دپاره او د مانځهٔ او د قرآن د لوستو دپاره جوړ شوی دی. یا دغه شان څهٔ هغهٔ ﷺ اوفرمایل. بیا هغهٔ ﷺ یو سړی ته حکم اوکړو او هغه یو بُوقه د اُوبو راوړه او په هغے

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی دد ے حدیث نه معلومیږی چه د بنده متیازے نجسے دی او په دے باندے اجماع ده خواه کهٔ هغه بنده لوئے وی یا وړوکے وی. لیکن د کم عمر بچی په متیازو باندے صرف اوبهٔ اړول کافی دی. دے لره به مونږ مخکښې بیانوو. انشاء الله او دا هم معلومیږی چه د جماعت عزت او عظمت کول پکار دی. او د پلیتو نه پاک صفا ساتل پکار دی او په زمکه باندے د اُوبو اچولو سره زمکه پاکیږی او د هغے کنستل ضروری نهٔ دی. دغه زمونږ او د جمهور علماؤ مذهب دے. او د ابوحنیفهؒ په نز هغه بغیر د کنستلو نه نهٔ پاکیږی. او دا هم معلومیږی چه جاهل لره په نرمئ او خوږو خبرو پوهه کول پکار دی چه د تذلیل یا عناد سره مخالفت او نهٔ کړی. او علماؤ لیکلی دی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوو وجو سره د بانډيچی د پرېښودو حکم کړے وو. یو خو دا چه د متیازو په بندولو سره پخپله هغهٔ ته ضرر وو دویمه دا چه کهٔ هغه متیازے کولے او روان وے نو ټول جماعت او د هغهٔ کپړے وغیره به ټول بیلمازهٔ شوی وو.

رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَالَ فَأَمَرَ رَجُلًا مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍمِنْ مَاءٍ فَشَنَّهُ عَلَيْهِ

بَابُ حُكْمِ بَوْلِ الطِّفْلِ الرَّضِيْعِ وَكَيْفِيَّةِ غَسْلِهِ

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

باندے نے توئ کړه[1]

باب د تی خور ماشوم بچی متیازو لره څنګه وینځل پکار دی

د ... المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے رسول الله ﷺ له به

---

[1] نووي ویلی دی ددے حدیث نه معلومه شوه چه جماعتونو لره د ناپاکو څیزونو نه او لاړو توکلو نه . او د اوچت آواز کولو نه، او د جنګ جګړو نه او د اختسلو خرڅولو نه او د تولو معاملاتو نه په حفاظت کښ ساتل پکار دی او دلته زهٔ یو څو مسئلے په مختصر طور باندے بیانوم یوه دا چه بے اودسه په جماعت کښ کیناستل صحیح دی او کهٔ چرے د عبادت په نیت سره کینی لکه اعتکاف یا د دین د علم د ایزده کولو یا لوستلو یا د وعظ کولو یا د اوریدلو یا د مانځهٔ په نیت سره نو مستحب دی. ګنی نو مباح دی. او د بعضے خلقو په نز مکروه دی لیکن دا قول ضعیف دے. دغه شان په جماعت کښ دننه اودهٔ کیدل صحیح دی. امام شافعي په اُمّ (نوم کتاب) کښ ددے وضاحت کړے دے ابن منذر په اشراق کښ لیکلی دی. چه په جماعت کښ د اودهٔ کیدو اجازت شته. سعید بن مُصیب او حسن او عطاء او شافعي رحمهم الله او ابن عباس ویلی دی. چه جماعت لره د خوب خائے مهٔ جوړوئ او یو روایت د هغوی نه داد ے چه کهٔ چرے د مانځهٔ دپاره جماعت ته لاړ شی نو څهٔ قباحت نشته او اوزاعی ویلی دی په جماعت کښ اودهٔ کیدل مکروه دی. او امام مالک ویلی دی مسافرو لره په جماعت کښ اودهٔ کیدل صحیح دی. او مقیم لره په جماعت کښ اودهٔ کیدل مناسب نهٔ دی او امام احمد ویلی دی د مسافر وغیره دپاره څهٔ قباحت نشته خو کهٔ چرے څوک په جماعت کښ د خوب خائے جوړوی نو جائز نهٔ دی. او د اسحق هم دغه قول دے. او چا چه په جماعت کښ اودهٔ کیدل جائز کړی دی د هغوی دلیل داد ے چه حضرت علی او ابن عمر رضی الله عنهما او اصحاب صفه رضی الله عنهم به په جماعت کښ اودهٔ کیدل او کافر د مسلمانانو په اجازت سره جماعت ته تلے شی البته بغیر د اجازت نه به هغه د تلو نه منع کولے شی. او ابن منذر ویلی دی په جماعتونو کښ اودس کول هر یو عالم رواه ګنړلی دی. البته په داسے خائے کښ اودس کول چه په هغے سره خلقو ته تکلیف وی مکروه دی. او د ابن سیرین او مالک او سحنون رحمهم الله نه ددے کراهت مروی دے د جماعت د پاک ساتلو دپاره زمونږ د ملګرو نه یو جماعت لیکلی دی چه خناورو او لیونو لره، او ماشومانو هلکانو لره جماعت ته بوتلل مکروه دی. او مراد هغه هلکان دی چه په هغوی کښ تمیز نهٔ وی ولے چه هغه جماعت پلیتوی. خو د خناور بوتلل حرام نهٔ دی. ولے چه رسول الله ﷺ په اوښ سُور د خانے کعبے طواف کړے دے. او دا د کراهت مُنافی نهٔ دی ځکه چه هغه د بیان جواز دپاره داسے کړی دی ددے داهر چه هغه تولو خلقو ته اوښودله. نو نور د هغه تابعداری کوی دغه شان جماعت ته پلیتی وړل حرام دی او د چا په بدن باندے چه داسے پلیتی لګیدلی وی چه د هغے نه د جماعت د پلیتیدو یره وی هغه د جماعت ته نهٔ راځی او کهٔ چرے یره نهٔ وی نو تلے شی کهٔ چرے څوک په جماعت کښ ښکر اولګوی او د وینے دپاره نے څهٔ لوښے ایخود ے نه وی نو حرام دی ګنی مکروه دی. کهٔ چرے په جماعت کښ دننه په لوښی کښ متیازے اوکړی نو په دی کښ دوه قولونه دی یو دا چه مکروه دی دویمه دا چه حرام دی په جماعت کښ نیغ سملاستل، خپے غزول، د ګوتو نه تقے اوخکل صحیح دی خو د ادب نه خلاف دی او جماعت جارو کول او صفا ساتل مستحب دی.

وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِالصِّبْيَانِ فَيُبَرِّكُ عَلَيْهِمْ وَيُحَنِّكُهُمْ فَأُتِيَ بِصَبِيٍّ فَبَالَ عَلَيْهِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَأَتْبَعَهُ بَوْلَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ

خلقو ماشومان راوړل هغهٔ به د هغوی دپاره دُعا کوله او لاس به ئے پر راښکودلو. او څهٔ به ئے اوچویل او د هغهٔ په خلهٔ کښ به ئے ورکړل (لکه کهجوره وغیره). یو ماشوم هغهٔ ته راوړے شو. هغه په هغهٔ باندے متیازے اوکړے. هغهٔ اوبهٔ اوغوښتے او په هغه ځائے واچولے. او هغے لرئے اونهٔ وینځلو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِصَبِيٍّ يَرْضَعُ فَبَالَ فِي حَجْرِهِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَصَبَّهُ عَلَيْهِ

د ام المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے رسول الله ﷺ لره یو پئ خورونکے ماشوم راوړے شو. ماشوم د هغهٔ په غیږه کښ متیازے اوکړے. هغهٔ اوبهٔ اوغوښتے او په هغه ځائے واچولے.

عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ أَنَّهَا أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِابْنٍ لَهَا لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ فَوَضَعَتْهُ فِي حَجْرِهِ فَبَالَ قَالَ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى أَنْ نَضَحَ بِالْمَاءِ

د ام قیس بنت محصن نه روایت دے هغے رسول الله ﷺ له یو بچے راوړو راغله چه هغه غلّه نهٔ خوړه او هغهٔ لره حضرت ﷺ په غیږه کښ واخستو. هغه ماشوم متیازے اوکړے. هغهٔ فقط اُوبهٔ په هغے باندے واچولے.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ أُمَّ قَيْسٍ بِنْتَ مِحْصَنٍ وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلِ اللَّاتِي بَايَعْنَ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَهِيَ أُخْتُ عُكَّاشَةَ بْنِ مِحْصَنٍ أَحَدِ بَنِي أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ قَالَ أَخْبَرَتْنِي أَنَّهَا أَتَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ بِابْنٍ لَهَا لَمْ يَبْلُغْ أَنْ يَأْكُلَ الطَّعَامَ قَالَ عُبَيْدُ اللهِ أَخْبَرَتْنِي أَنَّ ابْنَهَا ذَاكَ بَالَ فِي حَجْرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَدَعَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ عَلَى ثَوْبِهِ وَلَمْ يَغْسِلْهُ غَسْلًا

د عبید الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعود نه روایت دے. چه اُمّ قیس بن محصن کومه چه په ورمبو مهاجرینو ښځو کښ وه. چه هغوی بیعت کړے وو د رسول الله ﷺ نه او هغه د عکاشه بن محصن خور وه. ماته بیان کړے دے. چه هغے رسول الله ﷺ لره خپل یو بچے راوړو راغله چه هغه غله نهٔ خوړله هغه بچی د رسول الله ﷺ په غیږه کښ متیازے اوکړے. نو رسول الله ﷺ اُوبهٔ اوغوښتلے. او په کپړه باندے ئے توئ کړلے او هغے لره ئے او نهٔ وینځله[1].

[1]: نووی وئیلی دی ددے حدیثو نه د بچی په خلهٔ کښ د څهٔ جُویلی څیز د ورکولو استحباب ثابتیږی. او د اهل صلاح او فضل نه برکت حاصلول تر نه هم وتلی دی. او دا هم معلومیږی چه بچو لره د بزرګانو خواله وړل غوره دی. او دا ه معلومیږی چه حسن معاشرت او نرمی او په ماشومانو رحم کول ډیر ښهٔ څیز دے. او د باب نه مقصود دادے چه د بچی په متیازو باندے صرف اوبهٔ اچول کافی دی په دے باب کښ درے مذهبونه دی. یو صحیح او مشهور دادے چه د هلک په متیازو باندے اوبهٔ توبه ول کافی دی لیکن د جینئ

بَاب حُكْمِ الْمَنِيِّ

عَنْ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ أَنَّ رَجُلًا نَزَلَ بِعَائِشَةَ فَأَصْبَحَ يَغْسِلُ ثَوْبَهُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ إِنَّمَا كَانَ يُجْزِئُكَ إِنْ رَأَيْتَهُ أَنْ تَغْسِلَ مَكَانَهُ فَإِنْ لَمْ تَرَ نَضَحْتَ حَوْلَهُ وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي أَفْرُكُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرْكًا فَيُصَلِّي فِيهِ

عَنِ الْأَسْوَدِ وَهَمَّامٍ عَنْ عَائِشَةَ فِي الْمَنِيِّ قَالَتْ كُنْتُ أَفْرُكُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ سَأَلْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ يَسَارٍ عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ ثَوْبَ الرَّجُلِ أَيَغْسِلُهُ أَمْ يَغْسِلُ الثَّوْبَ فَقَالَ أَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَغْسِلُ الْمَنِيَّ ثُمَّ يَخْرُجُ إِلَى الصَّلَاةِ فِي ذَلِكَ الثَّوْبِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَى أَثَرِ الْغَسْلِ فِيهِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شِهَابٍ الْخَوْلَانِيِّ قَالَ كُنْتُ نَازِلًا عَلَى عَائِشَةَ فَاحْتَلَمْتُ فِي ثَوْبَيَّ

باب: د منۍ حکم

د علقمه او اسود نه روایت دے چه یو سړے د حضرت عائشې په خواه راکوز شو. هغهٔ سحر خپلې کپړے وینځلے (شاید چه د شپې ورته احتلام شوے وو) حضرت عائشې اووے. تا له کافي وه کچرے مني تالیدلے وے نو صرف هغه ځائے به د وینځلے وو. او چه د نه ده لیدلے نو اُوبهٔ به د چا پیره په خواؤشا باندے نوستلے وے. ما خو به د رسول الله ﷺ مني ریږوله (یعني ګروله ځکه چه هغه به ټینګه وه) بیا به هغوی ﷺ هغه کپړے واغوستے او مونځ به ئے کولو.

د اسود او همام نه روایت دے چه حضرت عائشې اووے ما به د رسول الله ﷺ د کپړو نه مني ریږوله

د عمرو بن میمون نه روایت دے. ما د سلیمان بن یسار نه تپوس اوکړو. کهٔ چرے مني په کپړه باندے اولګی. نو مني به وینځی یا کپړه به وینځی؟ هغوی ماته اووے چه حضرت عائشې بیان کړے دے. چه رسول الله ﷺ به منۍ لره وینځله بیا به مانځهٔ ته وتلو په هغه جامو کښې. او ما به د وینځلو نخښه لیده د هغهٔ په کپړو کښې.

د عبد الله بن شهاب خولانی نه روایت دے. زهٔ د حضرت عائشې خواله راغلم ماته احتلام اوشو په کپړو کښې. ما هغې لره په اوبو

متیازے پشان د نورو پلیتو وینځل ضروری دی. دویم مذهب دادے چه د دواړو په متیازو باندے اُوبهٔ توبه ول کافی دی. دریم مذهب دادے چه د دواړو وینځل ضروری دی ورستی دواړه مذهبونه شاذ او ضعیف دی. او اولنی مذهب لره اختیار کړے دے علی رضی الله ابن ابی طالب او عطاء بن رباح او حسن بصری او احمد بن حنبل او اسحق بن راهویه رحمهم الله او یو جماعت د سلفو. او خاوندانو د حدیثو. او دغه قول دے د ابن وهب رحمه الله او دغه مروی دے د ابوحنیفه رحمه الله نه. او دریم مذهب لره مالک اختیار کړے دے. او د ابوحنیفه رحمه الله نه هم مشهور دے. دا اختلاف په هغه بچی کښې دے. چه هغه سوا د پیو نه بله غله نهٔ خوری. هرکله چه هغه غله خوړل شروع کړی نو د ټولو په نز د هغهٔ متیازے وینځل ضروری دی. انتهٰی باختصار

فَغَمَسَتْهُمَا فِي الْمَاءِ فَرَأَتْنِي جَارِيَةٌ لِعَائِشَةَ فَأَخْبَرَتْهَا فَبَعَثَتْ إِلَيَّ عَائِشَةُ فَقَالَتْ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ بِثَوْبَيْكَ قَالَ قُلْتُ رَأَيْتُ مَا يَرَى النَّائِمُ فِي مَنَامِهِ قَالَتْ هَلْ رَأَيْتَ فِيهِمَا شَيْئًا قُلْتُ لَا قَالَتْ فَلَوْ رَأَيْتَ شَيْئًا غَسَلْتَهُ لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَإِنِّي لَأَحُكُّهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَابِسًا بِظُفُرِي

کښې دوبے کړلے د حضرت عائشے ؓ یوے وینځے دا اولیدل او هغوی ته نے بیان اوکړو. هغوی زۀ رااوغوښتم او تپوس نے اوکړو. هغه جامو لره تاولے غوپه کړے. ما اووے په خوب کښې ما هغه اولیدل کوم چه خوب والا وینی (مراد احتلام دے) هغوی اووے په کپړو کښې تا څۀ اثر اولیدۀ؟ ما ووے نه هغوی اووے کۀ چرے په کپړو کښې تا څۀ لیدلے وے نو د هغے وینځل کافی وو. او ما خو د رسول الله ﷺ د جامو نه اوچه منی په خپلو نوکونو سره ریژه وله[1]

---

[1] یعنی کچرے په کپړه باندے منی اولګی. نو د تولے کپړے وینځل او غوپه ورکول ضروری نۀ دی. صرف هغه ځائے به وینځے په کوم ځائے چه منی لګیدلی وی. نووی رحمه الله ویلی دی علماؤ اختلاف کړے دے. د سړی په منیٔ کښې نو د مالک رحمه الله او د ابوحنیفه رحمه الله مذهب دادے چه هغه نجسه ده مګر د ابوحنیفه رحمه الله په نز کچرے منی اوچه وی نو د هغے ریژول کافی دی. او دغه یو روایت دے د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه او د امام مالک رحمه الله په نز د هغے وینځل په هر حال کښې ضروری دی. او لیث ویلی دی چه منی نجسه ده. لیکن کۀ د منیٔ لګیدو سره یو سړی مونځ اوکړو نو د مانځۀ دوباره کول ضروری نۀ دی. او حسن رضی الله عنه ویلی دی چه کچرے په کپړه باندے منی لګیدلی وی او په هغے سره مونځ کړی نو د مانځۀ راګرځول ضروری نۀ دی. اګر کۀ منی هر څومره چه ډیره وی. لیکن کۀ چرے په بدن لګیدلے وی. نو د مانځۀ راګرځول ضروری دی اګر کۀ منی لږه وی. او ډیر علماء په دے طرف تلی دی چه منی پاکه ده. او دا مروی دے د حضرت علی او سعد بن ابی وقاص او عمر او عائشه رضی الله عنهم نه. او د داؤد او د احمد نه په ډیر صحیح روایت کښې. او دغه مذهب دے د شافعی او د اهل حدیثو. او چا چه ویلی دی چه د منیٔ طهارت صرف د شافعی قول دے هغه غلطی کړے ده. اوس چه ورته کوم خلق ناپاکه وائی دهغوی دلیل هغه حدیث دے چه په هغے کښې د منیٔ د وینځلو ذکر دے. او څوک چه ورته پاکه وائی د هغوی دلیل هغه جدیث دے چه په هغے کښې د ریژولو ذکر دے. ولے کچرے منی پلیته وے نو د هغے مږل او ریژول به کافی نۀ وی لکه چه د وینے مږل او ریژول کافی نۀ دی. او دا خلق وائی چه د وینځلو روایت محمول دے په استحباب او صفایئ باندے. یعنی وینځل نے غوره دی. دا خو د سړی د منیٔ حکم شو. او زمونږ د ملګرو یو قول ضعیف بل دے. هغه دا چه منی د ښځے نجسه ده. او د سړی پاکه ده. او یو قول ددے نه بل دے هغه دادے چه د دواړو منی نجسه ده د احنافو په نز د دواړو منی نجس او ناپاکه ده. او صحیح دغه دے چه د سړی او ښځے دواړو منی نجسه ده. او هر کله چه منی پاکه شوه نو د هغے خوړل صحیح دی یا نۀ دی. په دے کښې دوه قولونه دی. یو قول دادے چه صحیح نۀ دی. ولے چه طبیعت د هغے نه کرکه کوی. نو هغه په خیانت کښې داخل دی کوم چه حرام دی. اوس منی د نورو ځناورو. نو د سپی او سور منی خو نجسه ده بے د اختلاف نه او د نورو ځناورو په منیٔ کښې درے قولونه دی. صحیح دادے چه هغه پاکه ده خواه کۀ د هغه ځناور غوښه حلاله وی یا نۀ وی. دویم قول دادے چه هغه ناپاکه ده مطلقًا. دریم قول دادے چه د کوم ځناور غوښه حلاله وی د هغۀ منی پاکه ده. او د کوم ځناور غوښه چه ناپاکه وی د هغۀ منی هم ناپاکه ده.

بَاب نَجَاسَةِ الدَّمِ وَكَيْفِيَّةُ غَسْلِهِ

عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِحْدَانَا يُصِيبُ ثَوْبَهَا مِنْ دَمِ الْحَيْضَةِ كَيْفَ تَصْنَعُ بِهِ قَالَ تَحُتُّهُ ثُمَّ تَقْرُصُهُ بِالْمَاءِ ثُمَّ تَنْضَحُهُ ثُمَّ تُصَلِّي فِيهِ

باب: د وینې نجاست او د هغې د وینځلو بیان

د اسماءؓ نه روایت دے یوه ښځه راغله رسول اللهﷺ له او هغې اووے زمونږ نه چه د چا په جامو باندے د حیض وینه اولږی هغه به څۀ کوی؟ هغۀ اوفرمایل. اول به هغے لره اوریجوی. بیا به پرے اُوبۀ واچوی او اومږی به ئے. بیا به ئے وینځی. بیا به په هغه جامو باندے مونځ کوی.[1]

بَاب الدَّلِيلِ عَلَى نَجَاسَةِ الْبَوْلِ وَوُجُوبُ الِاسْتِبْرَاءِ مِنْهُ

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرَيْنِ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي

باب: د متیازو د پلیتئ بیان د هغے نه د پرهیز د ضروری کیدو بیان

د عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ په دوو قبرونو باندے اودریدو. نو اوئے فرمایل په دے دواړو قبرونو والا باندے عذاب دے. او په څۀ لوئے ګناه باندے نۀ دے. یو به ددوی نه چُغل

نووی رحمه الله ویلی دی. د حضرت عائشے رضی الله عنها ددے حدیث نه خلقو دلیل قائم کړے دے. چه د ښځے د فرج رطوبت پاک دے. او صحیح هم دغه دے. او هغوی دا ویلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته احتلام خو کیدل محال وو. ولے چه احتلام د شیطان د فریب نه کیږی. نو اوس چه کومه منی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے وه هغه به ضرور د جماع په وجه سره وی. او په جماع کښې منی د فرج د رطوبت سره یو خائے کیږی. او کوم خلق چه د فرج رطوبت ته نجس وائی. هغوی دوه جوابونه ورکړی دی. یو دا چه احتلام همیشه د شیطان د فریب نه کیږی. بلکه هر کله چه په بدن کښې د اعتدال نه زیاته منی پیدا کیږی. نو طبیعت هغے لره رفع کوی. دویمه دا چه احتمال دے. چه دا منی د مقدمات جماع یعنی ښکلولو او مساس او مباشرت نه وتلی وی. انتهٰی

[1] نووی رحمه الله ویلی دی. ددے حدیث نه وتلی دی. چه د پلیتئ په اوبو سره وینځل واجب دی. او څوک چه ئے په څۀ بل څۀ څیز سره اووینځی لکه سرکه وغیره سره نو جائز به نۀ وی. او وینه پلیته ده په اجماع د اهل اسلام. او د پلیتئ په وینځلو کښې صفا کول د هغے ضروری دی. د عدد شرط نشته. کۀ نجاست حُکمی وی چه هغه په سترګو سره نۀ شی لیدے. لکه متیازے وغیره. د هغے وینځل یو خل واجب دی. او په دویم دریم خل مستحب دی. او نجاست عینی کوم چه په سترګو سره لیدے شی لکۀ وینه وغیره نو د هغے وینځل واجب دی. چه نجاست زائل شی. اوس ورسته د هغے نه په دویم یا دریم خل وینځل مستحب دی. او د کپړے نچوړول د وینځلو نه پس شرط نۀ دی. د صحیح قول مطابق. اوس کۀ چرے د نجاستِ عینی رنګ د وینځلو نه پس پاتے شی. نو څۀ قباحت نشته. البته کۀ د هغے خوند باقی وی نو هغه کپړه ناپاکه ده. او خوند لرے کول ترے نه ضروری دی. او کچرے بوئ باقی پاتی شی. نو په دے کښې دوه قولونه دی. صحیح دا دے چه هغه به پاکه شی. انتهٰی مختصراً

كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ قَالَ فَدَعَا بِعَسِيبٍ رَطْبٍ فَشَقَّهُ بِاثْنَيْنِ ثُمَّ غَرَسَ عَلَى هٰذَا وَاحِدًا وَعَلَى هٰذَا وَاحِدًا ثُمَّ قَالَ لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا

خوري كوله (يعني د جنګ دپاره د يو خبره بهٔ ئې بل ته كوله) دويم به د خپلو متيازو نه په بچ كيدو كښې احتياط نهٔ كوو. بيا هغه يو شنه څانګه رااوغوښته او اوځيرله ئې هغه دوه ئې كړه. او په هر قبر باندې ئې يوه يوه ناله كړه. او اوئې فرمايل كيدې شي چه د كومې پورې دا څانګې اوچې شوې نه وي د هغه وخت پورې به په دوي عذاب كم وي[1].

[1] د بخاري په روايت كښې دومره زياته ده او هغه لوئې ګناه ده. بيا چه ئې كوم دا اوفرمائيل چه په لوئې ګناه باندې نهٔ دې. ددې نه به دا غرض وي چه د هغهٔ په خيال سره لويه نهٔ وه. يا دا مطلب دې چه د هغه ګناه نه قلاريدل هغهٔ ته ګران نهٔ وو. او قاضي عياض رحمه الله يو دريم تاويل كړې دې هغه دا دې چه د لوئې نه لوئې ګناه نهٔ وه. ددې نه دا مطلب دې چه عذاب څهٔ د لوئې نه په لوئې ګناه باندې مُنحصر نهٔ دې. بلكه په وړوې ګناه باندې هم وي. او د هغه ګناه د لوئې كيدو دا سبب دې. چه د متيازو نه كله پرهيز نهٔ كوي نو مونځ باطليږي. او مونځ پريخودل لويه ګناه ده. دغه شان چغل خوري او فساد د ټولو نه بدتر ګناه ده (نووي رحمه الله)

هغوي په هر يو قبر باندې يوه يوه څانګه ناله كړه شايد چه ددې د اوچيدو پورې عذاب كم شي. نووي رحمه الله ويلي دي چه ددې مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ د هغوي دواړو سفارش اوكړو. نو هغه سفارش قبول شو په دې شان سره چه دهغوي د عذاب نه كمولو حكم اوشو د څانګې د اوچيدو پورې. او كيدې شي چه هغوي دُعا كړې وي د هغوي دپاره د څانګو د اوچيدو پورې. او احتمال دې چه شنې څانګې ثنا وائي او د هغې وجې نه د عذاب كمې شي او هر كله چه اوچې شي نو تسبيح موقوف كيدې شي. ولې چه وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ نه د اكثرو مفسرينو په نز هغه شئ مراد دې. چه هغه ژوندې وي. او د لرګي او د ګټې ژوند د هغې پوړې وي چه هغه كټ شوي نهٔ وي. او د محققينو علماؤ دغه قول دې چه آيت عام دې. او هر يو څيز حقيقتًا تسبيح كوي. او بعضو ويلي دي چه هر څيز د خپل صورت او سيرت او اوصافو او تاثيراتو په وجه سره د خپل پيدا كونكي په قدرت دلالت كوي. او دغه د هغې تسبيح ده.

برگ درختان سبز درنظر هوشيار هر ورقي دفتريست معرفت كردگار

او ددې حديث نه علماؤ دا خبره ويستلې ده چه د قبر په خواه كښې قرآن لوستل مستحب دي. ځكه چه هر كله د شين خاخ سره د عذاب كمې وي نو د قرآن په بركت سره به ضرور په عذاب كښې كمې راځي. او بخاري رحمه الله په خپل صحيح كښې روايت كړې دې. چه بريده بن حصيب اسلمي رحمه الله وصيت كړې وو چه څما په قبر كښې د دوه شنهٔ خاخونه كينبودلې شي. او كيدې شي چه هغوي د بركت دپاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې فعل ليدو سره دا وصيت اوكړو. خطابي رحمه الله انكار كړې دې د هغه فعل نه كوم چه خلق د قبرونو سره كوي. يعني ګلونه او خاخونه اچول. او ويلي دي چه ددې څهٔ اصل نشته. ددې حديث نه دا هم وتلي دي چه د قبر عذاب حق دې. او معتزله ددې خلاف كړې دې. او متيازې نجسې دي او چغل خوري حرامه ده. هر كله چه د فساد په نيت سره وي. او كوم چه د چا مسلمان د ضرر نه بچ كول منظور وي. نو ثواب دې. هغه په چغل خورئ كښې داخل نهٔ دي. انتهٰى مع زيادهٔ.

كِتَابُ الْحَيْضِ

د حيض[1] بيان

بَاب مُبَاشَرَةِ الْحَائِضِ فَوْقَ الْإِزَارِ

باب : د ته بند (کپړے) دپاسه د حائضے ښځے سره مباشرت کول

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا أَمَرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَأْتَزِرُ بِإِزَارٍ ثُمَّ يُبَاشِرُهَا

د اُمُّ المؤمنين حضرت عائشے ؓ نه روایت دے . زمونږ نه چه به کله څوک حائضه شوه نو رسول الله ﷺ به هغې ته حکم اوکړو د تهبند د تړلو. بیا به ئے مباشرت (یعنی بدن ئے ملاوو) کولو د هغې سره[2].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا أَمَرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَأْتَزِرَ فِي فَوْرِ حَيْضَتِهَا

د اُمُّ المؤمنين حضرت عائشے ؓ نه روایت دے. چه په مونږ کښې به هرے یوے ښځے ته چه حیض راغے. نو رسول الله ﷺ به هغې ته د تهبند د تړلو حکم کولو هر کله چه به د حیض وینه په جوش کښې وه.

---

[1] د حیض معنی ده په لغت کښې بهیدل او په اصطلاح کښې هغه وینے ته ویلے کیږی. کومه چه د بالغے ښځے د ګیډے نه بهیږی په معین ورځو کښې. او استحاضه هغه وینه ده چه هغه بے وخت د عادت نه خلاف راشی.

[2] یعنی پټیدو به په څادر کښې د هغې سره اولاس به ئے وروړلو او ښکلوله به ئے خو جماع به ئے نۀ کوله ځکه چه په حیض کښې جماع کول حرام دی په اجماع د اهل اسلام. او کۀ چرے څوک دے لره حلال اوګنړی نو هغه کافر مرتد دے. ځکه چه دا دے حرام والے د قرآن نه ثابت دے. او څوک چه ئے حلال نه ګنړی او په هیره سره یا د کم عقلۍ په وجه داسے کار اوکړی نو په هغۀ باندے نۀ ګناه شته نۀ کفاره. او کۀ چرے قصداً داسے اوکړی نو ګناه کبیره ده. او کفاره پر واجب نۀ ده. د مالک او ابوحنیفه او شافعی رحمهم الله په یو روایت کښې د غه قول دے. او جمهور سلفو دغے لره اختیار کړے دے. لکه عطاء او ابن ابی ملیکه او شعبی او نخعی او مکحول او زهری او ابوالزناد او ربیعه او حماد بن ابی سلیمان او ایوب سختیانی او سفیان ثوری او د لیث بن سعد رحمهم الله. او یو قول دا دے چه په هغه بلاندے کفاره واجب ده او دا مروی دے د حضرت ابن عباس رضی الله او حسن بصری او سعید بن جبیر رحمهما الله نه او دا قول دے د قتاده او اوزاعی او د اسحق رحمهم الله او د احمد رحمه الله نه یو روایت دے. په یو روایت کښې اوس اختلاف کړے دے. هغه خلقو په کفاره کښې نو حسن او سعید رحمهما الله ویلی دي هغه کفاره د یو غلام ازادول دی. او باقی خلقو ویلی دی هغه یو دینار یا نیم دینار صدقه ورکول دی. او دلیل د هغوی د ابن عباس حدیث دے. مرفوع چه کوم سړے د خپلے ښځے سره جماع اوکړی د حیض په حالت کښې نو هغه د یو دینار صدقه ورکړی یا نیم دینار. لیکن دا حدیث په اتفاق د حفاظو ضعیف دے. انتهی.

ثُمَّ يُبَاشِرُهَا قَالَتْ وَأَيُّكُمْ يَمْلِكُ إِرْبَهُ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْلِكُ إِرْبَهُ

بیا به ئے هغې سره مباشرت کولو. حضرت عائشې اووے پتاسو کښې څوک په خپل خواهش او ضرورت باندے دومره قدرے اختیار لری. څومره چه رسول الله ﷺ لرلو[1].

عَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَاشِرُ نِسَاءَهُ فَوْقَ الْإِزَارِ وَهُنَّ حُيَّضٌ

د اُمُّ المؤمنین میمونه ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د خپلو ښځو سره مباشرت کوو د لنګ د پاسه. او هغه به حائضې وے.

بَابُ الِاضْطِجَاعِ مَعَ الْحَائِضِ فِي لِحَافٍ وَاحِدٍ

باب: د حیض والا ښځې سره په یو څادر کښې سملاستل

عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْطَجِعُ مَعِي وَأَنَا حَائِضٌ وَبَيْنِي وَبَيْنَهُ ثَوْبٌ

د اُمُّ المؤمنین حضرت میمونه ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خما سره به څملاستو او زۀ به حائضه ووم. خما او د هغۀ په مینځ کښې به یوه کپړه حائل وه.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ بَيْنَمَا أَنَا مُضْطَجِعَةٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَمِيلَةِ إِذْ حِضْتُ فَانْسَلَلْتُ فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي

د اُمُّ المؤمنین اُمّ سلمه ؓ نه روایت دے چه زۀ د رسول الله ﷺ سره پته شوے وم په څادر کښې. ناڅاپا خما حیض راغې زۀ یو خواته شوم او خپلې د حیض کپړے م راواخستے. رسول الله ﷺ

---

[1] یعنی په نفس باندے قابو لره. او خپل خواهش لره بے موقعے منع کول دا د هر سړی کار نه دے البته په رسول الله ﷺ کښې دا قدرت وو. خکه چه د کوم سړی نه صبر نه شی کیدے. هغۀ له دغه غوره ده چه د حائضې سره مباشرت هم او نه کړی داسے نۀ وی چه د شهوت په غلبه کښې جماع اوکړی او ګنهګار شی. نووی ویلی دی مباشرت یو خو د جماع په معنی کښې دے. هغه د حیض په حالت کښې حرام دے. لکه چه پورته بیان شو. او یو مباشرت دا دے چه د نامه د پاسه او د زنګونانو نه لاندے مباشرت اوکړی. په ذکر سره یا ښکلولو سره یا غاړه ویستلو سره یا چیچلو سکوندلو سره دا حلال دے. د حیض په حالت کښې په اتفاق د علماؤ. او هغه کوم چه د عبیده سلمانی نه منقول دے. چه دد دے قسم مباشرت هم د حیض په حالت کښې صحیح نه دے. نو دا شاذ دے منکر دے دے لره چا قبول کړے نه دے. او که چرے ثابت هم شی خو مردود دے. په دلیل د احادیث صحیحه چه هغې لره بخاری او مسلم روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ به د ازار نه دپاسه مباشرت کولو. او یو مباشرت دا دے چه د زنګونانو او نوم په مینځ کښې مباشرت کوی. لیکن سوا د قبل او د دُبر نه په نورو خایونو کښې. په دی کښې درے قولونه دی صحیح دا دے چه حرام دے. اوس دا حُرمت ممتده دے. کوم ځائے کښې چه حیض بند شو. او ښځې غسل اوکړو. یائے تیمم اوکړو. نو د هر قسم مباشرت سره حلال کیدے شی زمونږ او د مالک او احمد رحمهم الله مذهب دغه دے. او د امام ابوحنیفه په نز که په لس ورځو کښې حیض بند شو نو د غسل نه مخکښې هم مباشرت حلال دے. انتهی مختصراً

فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنُفِسْتِ قُلْتُ نَعَمْ فَدَعَانِي فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ قَالَتْ وَكَانَتْ هِيَ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ يَغْتَسِلَانِ فِي الْإِنَاءِ الْوَاحِدِ مِنَ الْجَنَابَةِ

اوفرمایل ولے حیض د راغے ؟ ما اووے آو هغهٔ زهٔ رااوغوښتم بیا زهٔ د هغهٔ سره پریوتم په هغه څادر کښې أمّ سلمهٔ وائي ما او رسول الله ﷺ به په یو لوښي سره غسل کوو د جُنابت نه[1]

بَابُ جَوَازِ غَسْلِ الْحَائِضِ رَأْسَ زَوْجِهَا وَتَرْجِيلِهِ وَطَهَارَةِ سُؤْرِهَا وَالِاتِّكَاءِ فِي حِجْرِهَا وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِيهِ

باب : په دے باب کښې دا بیان دے چه حائضه ښځه د خپل خاوند سر وینځلے شي. د هغهٔ سر ګومنځلے شي. او د هغے په غیږ کښې دِ ده لګول او کیناستل او قران لوستل صحیح دي

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَكَفَ يُدْنِي إِلَيَّ رَأْسَهُ فَأُرَجِّلُهُ وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ

د أمّ المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے . رسول الله ﷺ چه به کله اعتکاف کوو. نو خپل سر به ئے خما په طرف راښکته کړو نو ما به هغه ګومنځ کړو. او هغهٔ به کور ته تشریف نهٔ راوړو (د جماعت نه) مګر د ضروري حاجت (لکه وارهٔ بول او لوئې بول وغیره) په وجه سره[2].

عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ إِنْ كُنْتُ

أمّ المؤمنین حضرت عائشے ؓ وئیلي دي زهٔ (کله به چه په اعتکاف کښې وم) کور ته به تلم د حاجت دپاره او په روانه روانه کښې چه به

---

[1] نووي رحمه الله وائي د دے حدیث نه دا اوخي چه د حائضے سره اودهٔ کیدل جائز دي. دغه شان د هغے سره په یو څادر کښې پتیدل په شرط د دے چه د بدن سره بدن نهٔ لګي. د نوم او زنګونان په مینځ کښې حصه یا صرف فرج سره نهٔ لګي. علماؤ وئیلي دي چه د حائضے سره پریوتل او هغه ښکلول صحیح دي. دغه شان لاس لګول د نوم د پاسه او د زنګونانو د لاندے او د حائضے ښځے لاس نجس نهٔ دے. هغه به لوبو او په هر یو روان څیز کښې لاس مندلے شي. او د خپل خاوند سر وینځلے شي ګومنځ کولے شي. غله پخولے شي. د هغے جُوټه لوخوله دواړه پاک دي او ابن جریر وئیلي دي چه په دے باندے اجماع ده د علماؤ. انتهٰی.

[2] نووي رحمه الله وئیلي دي د دے حدیث نه څو فائدے د اعتکاف معلومے شوے چه د هغے ذکر به انشاء الله د اعتکاف په باب کښې راشي او د دے نه معلومیږي چه کهٔ چرے اعتکاف کونکے د خپل بدن څهٔ حصه لکه لاس یا خپه یا سَر د جماعت نه بهر او کاږي نو د هغهٔ اعتکاف نهٔ باطلیږي. او کوم سړے چه قسم اوکړي د دے خبرے چه فلاني کور ته به نهٔ خم یا به د فلاني کور نه نهٔ اوخم بیا چه هغه د خپل بدن څهٔ حصّه هغه کور ته دننه کړي یانے د هغے نه رااوباسي. نو د هغهٔ قسم نهٔ ماتیږي. او دا هم معلومه شوه چه خاوند د خپلے بي بي نه خدمت اخستے شي. په پخولو او لمبولو او وینځلو کښې په شرط د دے چه هغه راضي وي. انتهٰی.

لَأَدْخُلُ الْبَيْتَ لِلْحَاجَةِ وَالْمَرِيضُ فِيهِ فَمَا أَسْأَلُ عَنْهُ إِلَّا وَأَنَا مَارَّةٌ وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَيَدْخِلُ عَلَيَّ رَأْسَهُ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَأُرَجِّلُهُ وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةٍ إِذَا كَانَ مُعْتَكِفًا وَقَالَ ابْنُ رُمْحٍ إِذَا كَانُوا مُعْتَكِفِينَ

څوک په کور کښې بیمار وو د هغهٔ تپوس به م کوو. او رسول الله ﷺ به خپل سَر په جماعت کښې ځما په طرف رادیخوا کړو هغه به م گومنزه وو. او هغه به کورته نهٔ راتلو مگر د حاجت دپاره. هر کله چه به په اعتکاف کښې وو. ابن رمح ویلی دی هر کله چه به هغه تول په اعتکاف کښې وو.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُخْرِجُ إِلَيَّ رَأْسَهُ مِنَ الْمَسْجِدِ وَهُوَ مُجَاوِرٌ فَأَغْسِلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ

د أُمُّ المؤمنین عائشې نه روایت دے. هر کله چه به رسول الله ﷺ په اعتکاف کښې وو. نو د جماعت نه به ئے خپل سَر بهر رااُوویستو. ما به د هغهٔ سَر وینځلو حال دا دے چه زهٔ به حائضه وم.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُدْنِي إِلَيَّ رَأْسَهُ وَأَنَا فِي حُجْرَتِي فَأُرَجِّلُ رَأْسَهُ وَأَنَا حَائِضٌ

د أُمُّ المؤمنین عائشې نه روایت دے. رسول الله ﷺ به خپل سَر ماته رانژدے کوو او زهٔ به په حُجره کښې وم. بیا به ما د هغهٔ په سر کښې گومنز اوکړه او زهٔ به حائضه وم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْسِلُ رَأْسَ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَأَنَا حَائِضٌ

أُمُّ المؤمنین حضرت عائشه ویلی دی. رسول الله ﷺ لره به ما سَر وینځلو او زهٔ به حائضه وم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَتْ فَقُلْتُ إِنِّي حَائِضٌ فَقَالَ إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ

أُمُّ المؤمنین حضرت عائشه ویلی دی رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل. ما ته جائے نماز را اوچت کړه د جماعت نه ما اووے. زهٔ حائضه یم. هغوی اوفرمایل. حیض ستا په لاس کښې خو نهٔ دے![1]

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُنَاوِلَهُ الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَقُلْتُ إِنِّي حَائِضٌ فَقَالَ تَنَاوَلِيهَا فَإِنَّ الْحَيْضَةَ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ

د أُمُّ المؤمنین عائشې نه روایت دے. ماته رسول الله ﷺ حکم اوکړو. د جائے نماز د اُچتولو د جماعت نه ما اووے ما نه حیض دے. هغهٔ اوفرمائیل. او چت کړه حیض ستا په لاسونو کښې لړ دے.

---

[1] په حدیث کښې د خمره لفظ دے. اکثرو علماؤ ویلی دی چه خمره هغه لړه شان ټکړه ده د بُورِیے وغیره چه په هغے باندے سجده کوی. او خطابی رحمه الله ویلی دی د خمره نه مراد جائے نماز دے. او کوم چه ئے دا اوفرمایل ستا حیض په لاس کښې نهٔ دے. دهغے مطلب دا دے چه تهٔ د جماعت نه بهر اودریږه او لاس دننه کړه بوریئ راکاږه او په لاس د ننه کولو کښې څهٔ قباحت نشته اگر چه تهٔ د حیض نه ئے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ نَاوِلِينِي الثَّوْبَ فَقَالَتْ إِنِّي حَائِضٌ فَقَالَ إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ فَنَاوَلَتْهُ

د ابوهریرهٔ نه روایت دے. رسول الله ﷺ په جماعت کښې وو. په دے کښې هغهٔ اوفرمائیل. اے عائشه خما نه دا کپړه اوچته کړه هغو اووے. زهٔ حائضه یم. هغهٔ اوفرمایل ستا حیض ستا په لاس کښې نه دے. بیا هغې کپړه اوچته کړه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَشْرَبُ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ فَيَشْرَبُ وَأَتَعَرَّقُ الْعَرْقَ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ وَلَمْ يَذْكُرْ زُهَيْرٌ فَيَشْرَبُ

د اُمُّ المؤمنین عائشے نه روایت دے چه ما اُوبۀ څکلے. چه اُوبۀ مے اوڅکلے نو هغه لوښے مے رسول الله ﷺ ته ورکړو. هغۀ به هغه ځائے باندے خله کیښوده په کوم ځائے باندے چه ما خله ایخے وه او څکلی مے وے. او اُوبۀ ئے اوڅښلے. حالانکه زهٔ د حیض په حالت کښې وم. او ما به خوروا راخکوده بیا به مے رسول الله ﷺ ته ورکۀ هغۀ به هغه ځائے خلهٔ ایخوده په کوم ځائے چه به ما لګولے وه. زهیر په خپل روایت کښې د څکلو ذکر نهٔ دے کړے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّكِئُ فِي حِجْرِي وَأَنَا حَائِضٌ فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ

د اُمُّ المؤمنین عائشے نه روایت دے. رسول الله ﷺ خما په غیږه کښې ډډه وهلے وه. او قرآن ئے لوستلو او زهٔ حائضه وم.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ الْيَهُودَ كَانُوا إِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ فِيهِمْ لَمْ يُؤَاكِلُوهَا وَلَمْ يُجَامِعُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ فَسَأَلَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا

د انس نه روایت دے. په یهودو کښې چه به کله څوک ښځه حائضه کیده. نو د هغې سره به ئے روټئ نهٔ خوړله او نهٔ به په کور کښې د هغې سره اوسیدل. د رسول الله ﷺ صحابو د هغۀ نه دد ے مسئلے په باره کښې تپوس اوکړو. نو الله تعالی دا ایت نازل کړو. وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ د آخره پورے. یعنی تپوس کوی ستا نه په باره د حیض کښې. تهٔ ورته اووایه حیض یوه بیماره ده. تاسو جدا اوسیږئ د ښځو نه د حیض په حالت کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل. ټول کار کوئ سوا د جماع نه داخبر یهودو ته اورسیدو. هغوی اووے دا سړے (یعنی محمد رسول الله ﷺ) غواړی چه په هره خبره کښې د زمونږ نه خلاف

النِّكَاحَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ الْيَهُودَ فَقَالُوا مَا يُرِيدُ هٰذَا الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ مِنْ أَمْرِنَا شَيْئًا إِلَّا خَالَفَنَا فِيهِ فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ فَقَالَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الْيَهُودَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا فَلَا نُجَامِعُهُنَّ فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا فَخَرَجَا فَاسْتَقْبَلَهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَ فِي آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا فَعَرَفَا أَنْ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا

اوكړي. ددے په اوریدو سره اُسید بن حضیرؓ او عباد بن بشرؓ راغلل او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهﷺ یهود داسے داسے وائی. مونږ به د حیض والا ښځو سره جماع ولے نه کوو (یعنی کاله چه یهود زمونږ مخالفت لره بدګنړی او په هغے سره سوزی نو مونږ لره هم په ښه شان سره د هغوی مخالفت کول پکار دی) ددے په اوریدو سره د رسول اللهﷺ د مخ رنګ بدل شو (د هغوی ددے وینا نه چه مونږ به جماع ولے نه کوو. نو هغۀ ته به ده معلومه شوه څکه چه د قرآن خلاف دی) مونږ دا اوګنړله چه هغوی هغه دواړو ته غصه شو. هغوی پاڅیدل بهر اووتل په دے کښې هغۀ ته چا پئ راواولیږل د تحفے په طور هغۀ هغه دواړه راواوغوښتل دوباره. او پئ ئے پرے اوڅکول. نو هغوی ته معلومه شوه: چه د هغوی غصه دوی ته نۀ وه[1]

بَابُ الْمَذْيِ

باب: د مذئ بیان[2]

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنْتُ رَجُلًا مَذَّاءً وَكُنْتُ أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ بْنَ الْأَسْوَدِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ

حضرت علیؓ وئیلی دی خما مذی زیاته وه یعنی مذی به رانه تله او ماله شرم راتلو د مذئ د مسئلے د تپوسلو د رسول اللهﷺ نه په وجه د فاطمےؓ ما مقدادؓ ته اووے. هغوی تپوس اوکړو هغۀ اوفرمایل د مذئ په وتلو سره اودس لازمیږی (غسل ضروری نۀ دے)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ أَرْسَلْنَا الْمِقْدَادَ بْنَ الْأَسْوَدِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنِ الْمَذْيِ

د عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے حضرت علیؓ وئیلی دی. مونږ مقدادؓ لره اولیږلو. د رسول اللهﷺ په خدمت کښې هغوی تپوس اوکړو. کۀ چرے د یو سړی مذی اوځی. نو هغه به څۀ کوی؟

---

[1] هغه د هغوی په خبره باندے صرف غصه شوے وو. د هغۀ په ذات څۀ غسه نه وو آخر هغه مسلمانان خو وو هغوی د اسلام په حرارت کښې د یهودو نه اوسول دا خبره ئے اوکړه. چه هغه د قرآن نه خلاف وه

[2] مذی یو سپینے نرئ اوبۀ دی چه د شهوت په وخت راواوځی. د هغے نه پس شهوت نۀ کمیږی او چرته ددے وتل نۀ محسوسیږی او په سړی او ښځے دواړو کښې دا اوبه راځی بلکه په ښځو کښې زیاتے (نووی)

يَخْرُجُ مِنَ الْإِنْسَانِ كَيْفَ يَفْعَلُ بِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَوَضَّأْ وَانْضَحْ فَرْجَكَ

حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل . چه هغه به اودس اوكړي او خپل شرمگاه به اووينځي[1].

بَابُ غَسْلِ الْوَجْهِ وَالْيَدَيْنِ إِذَا اسْتَيْقَظَ مِنَ النَّوْمِ

باب د خوب نه چه پاڅي د مخ او لاسونو د وينځلو بيان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ ثُمَّ نَامَ

د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ د شپے بيدار شولو نو د حاجت نه فارغ شو . بيائے مخ او لاسونه اووينځل او بيا اوده شو[2].

بَابُ جَوَازِ نَوْمِ الْجُنُبِ وَاسْتِحْبَابِ الْوُضُوءِ لَهُ وَغَسْلِ الْفَرْجِ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَشْرَبَ أَوْ يَنَامَ أَوْ يُجَامِعَ

باب: جُنبي لره اوده كيدل صحيح دي ليكن اودس كول او شرمگاه وينځل په هغه وخت چه د خوړلو څكلو يا د اوده كيدو يا د جماع اراده وي ، مستحب دي

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ وَهُوَ جُنُبٌ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ قَبْلَ أَنْ يَنَامَ

د اُمُّ المؤمنين عائشے رضي الله عنها نه روايت دے . رسول الله ﷺ چه به كله د اوده كيدو اراده كوله او هغه به په جُنابت كښ وو . نو اول به ئے اودس اوكړلو. لكه څنګ چه اودس كوي د مانځه دپاره د اوده كيدو نه مخكښ.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د اُمُّ المؤمنين عائشے رضي الله عنها نه روايت دے . چه رسول الله ﷺ چه به كله

---

[1] نووي رحمه الله ويلي دي علماؤ اتفاق كړے دے . په دے امر باندے چه په مذئ وتلو سره غسل نه لازميږي . ليكن اودس لازميږي . د ابوحينفه او شافعي او حمد رحمهم الله او د جمهور علماؤ دغه قول دے . او د هغه حديثونو نه دا امر ثابتيږي . او دا هم ويلي دي چه مذي نجسه ده په دے واسطه هغه د ذكر نه وينځلو حكم كړے دے . او مراد د ذكر د وينځلو نه داد ے . چه څومره قدرے په ذكر مذي لګيدلي وي دومره به وينځي نه ټول ذكر لره . شافعي رحمه الله او جمهور علماؤ دغه شان ويلي دي . او د مالك او حمد رحمهما الله نه منقول دي چه ټول ذكر لره به وينځي . او دا مسئله هم ترينه وتلي چه سوا د لويو بولو متيازو نه نورے پليتئ لكه مذي او وينه وغيره په لوټه سره پاكول كافي نهٔ دي بلكه په اُوبو سره طهارت كول پكار دي . او دغه صحيح دے . او يو قول داد ے چه په لوټه سره هم پاكول صحيح دي او دا مسئله ترينه وتلے چه زُوم لره د خپل سخر يا خواښيے يا د ښځے د خور په مخكښ د جماع متعلق خبرے كول د ادب نه خلاف دي انتهى باختصار

[2] امام نووي رحمه الله ويلي دي دد ے حديث نه معلوميږي چه د شپے دويښيدو نه پس بيا اوده كيدل مكرو نهٔ دي او د سلفو بعضے زاهدانو دے ته مكروه ويلي دي . په دے خيال سره چه سترګے به كهولاؤ نهٔ شي او د شپے په تهجدو او وظيفه كښ به ناغه راشي . او رسول الله ﷺ ته دد ے خبرے پره نهٔ وه.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنُبًا فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَنَامَ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ

جُنب شو. او اوده کیدل یا خوړل به ئے غوښتل نو اودس به ئے کوو څنګه چه د مانځهٔ د پاره کوی. د اوده کیدو نه مخکښ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيَرْقُدُ أَحَدُنَا وَهُوَ جُنُبٌ قَالَ نَعَمْ إِذَا تَوَضَّأَ

د ابن عمرؓ نه روایت دے. عمرؓ اووے. یا رسول الله ﷺ کچرے زمونږ نه څوک اود کیدل غواړی. او هغه جنب وی؟ هغهٔ اوفرمائیل ! اودس د اوکړی بیا اوده کیدے شی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ اسْتَفْتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلْ يَنَامُ أَحَدُنَا وَهُوَ جُنُبٌ قَالَ نَعَمْ لِيَتَوَضَّأْ ثُمَّ لِيَنَمْ حَتَّى يَغْتَسِلَ إِذَا شَاءَ

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه حضرت عمرؓ د رسول الله ﷺ نه د مسئلے تپوس اوکړو څوک چه مونږ نه په جنابت کښ شی نو هغه اوده کیدے شی؟ هغهٔ اوفرمائیل. آو. اودس دِ اوکړی. بیا دِ اودهٔ شی کله چه غواړی غسل دِ اوکړی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ تُصِيبُهُ جَنَابَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نَمْ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے حضرت عمرؓ رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو. چه هغه ته جنابت اُوشی د شپے. حضرتؐ ورته اوفرمائیل چه اودس کوه. او ذکر لره وینځه او بیا اوده کیږه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ قُلْتُ كَيْفَ كَانَ يَصْنَعُ فِي الْجَنَابَةِ أَكَانَ يَغْتَسِلُ قَبْلَ أَنْ يَنَامَ أَمْ يَنَامُ قَبْلَ أَنْ يَغْتَسِلَ قَالَتْ كُلُّ ذٰلِكَ قَدْ كَانَ يَفْعَلُ رُبَّمَا اغْتَسَلَ فَنَامَ وَرُبَّمَا تَوَضَّأَ فَنَامَ قُلْتُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً

د عبد الله بن ابی قیسؓ نه روایت دے. چه ما د حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو. د رسول الله ﷺ د وترو په باره کښ. بیائے بیان کړو حدیث لره تر دے پورے. چه ما اووے هغهٔ به جنابت کښ څهٔ کول؟ ایا د غسل نه مخکښ به اوده کیدهٔ؟ هغوی اووے هغه به دواړه قسمه کول کله به ئے غسل اوکړو بیا به اودهٔ شو. او کله به ئے اودس اوکړو بیا به اودهٔ شو. ما اووے شکر دے د اللهؓ چه هغه ګنجائش ایخودے په دے کار کښ.

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

دا حدیث هم د مخکښی حدیث په شان دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ أَهْلَهُ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يَعُودَ فَلْيَتَوَضَّأْ زَادَ أَبُو بَكْرٍ فِي حَدِيثِهِ بَيْنَهُمَا

د ابو سعید خدریؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه څوک د خپلے بی بی سره صحبت اوکړی او بیا دوباره کول غواړی. نو اودس د اوکړی. او بیا د صحبت اوکړی.

وُضُوءًا وَقَالَ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُعَاوِدَ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ بِغُسْلٍ وَاحِدٍ

د انس ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ به خپلو ټولو ښځو ته راتللو په یو غسل سره[1].

بَاب وُجُوبِ الْغُسْلِ عَلَى الْمَرْأَةِ بِخُرُوجِ الْمَنِيِّ مِنْهَا

باب: کۀ چرے د ښځے منی اُووته نو په هغے باندے غسل واجب دے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ جَاءَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ وَهِيَ جَدَّةُ إِسْحَقَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَهُ وَعَائِشَةُ عِنْدَهُ يَا رَسُولَ اللهِ الْمَرْأَةُ تَرَى مَا يَرَى الرَّجُلُ فِي الْمَنَامِ فَتَرَى مِنْ نَفْسِهَا مَا يَرَى الرَّجُلُ مِنْ نَفْسِهِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ فَضَحْتِ النِّسَاءَ تَرِبَتْ يَمِينُكِ فَقَالَ لِعَائِشَةَ بَلْ أَنْتِ فَتَرِبَتْ يَمِينُكِ نَعَمْ فَلْتَغْتَسِلْ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ إِذَا رَأَتْ ذَاكِ

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے چه اُمّ سُلیم ؓ د رسول الله ﷺ خواله راغله (او هغه نیا وه د اسحٰق چه راوی دے ددے حدیث د انس نه) او هلته حضرت عائشه ؓ ناسته وه هغوی اووے یا رسول الله ﷺ ښځه کۀ چرے په خوب کښې داسے وینی. لکه چه سړے وینی (یعنی منی لره) ددے په اوریدو سره بی بی عائشے ؓ اووے. اے اُمّ سُلیم ؓ تا اوشرمولے ښځے (ددے وجے نه چه احتلام هغې ښځے ته کیږی چه هغه ډیره شهوت ناکه وی او منی هم د هغے رااوځی) لاس د په خاوره ککړ شه او داهغې نیکه خبره اوکړه نبی ﷺ حضرت عائشے ؓ ته اوفرمائیل بلکه ستا لاس د په خاوره ککړ شی او اُمّ سُلیم ته ئے اوفرمائیل اے ام سُلیم ښځه به غسل کوی په هغه صورت کښې هر کله چه داسے اووینی[2].

---

[1] نووی ؒ ویلی دی. حاصل ددے ټولو حدیثونو دا دے چه د جُنب خوړل او څکل او اوده کیدل او جماع کول د غسل نه مخکښې صحیح دی په دے باندے د ټولو اجماع ده. دغه شان په دے خبره باندے چه د بدن حصه پاک ده. ددے حدیثونو په وجه سره دا امر مستحب دے چه خوړل یا څکل یا اوده کیدل یا جماع کول غواړی نو اودس دِ اوکړی. او شرمګاه لره دِ اوینځی. کۀ چرے داسے نۀ کوی نو مکروه دی. او د ابن حبیب او داؤد ظاهر په نزد اودس واجب دے. او ددے حدیثونو نه دا هم اوځی. چه د جُنابت غسل فی الفور واجب نۀ دے بلکه هر کله چه د مانځۀ دپاره پاسی هغه وخت واجب دے. انتهٰی

[2] یعنی د حضرت عائشے ؓ دا ویل چه ستا لاس دِ په خاوره ککړ شی. ددے نه خیرے مقصود نۀ وه نۀ رښتیا. بلکه هغوی په نیک نیتئ سره دا کلمه ویلے وه. اګر چه ددے کلمے مطلب اصل دا دے چه په تا باندے محتاجی راشی او تۀ دِ غریبه شے. خو اوس محاوره شوے ده په عربو کښې هغوی دا کلمه هغه وخت وائی چه هر کله څۀ خبره بده اوګڼړی. یائے بده وینی. یا رښتیا وی یا خفا وی.

نووی رحمه الله ویلی دی چه هر کله د ښځے منی اوځی نو په هغې باندے غسل واجب دے لکه په سړی باندے. او علماؤ اجماع کړے ده چه په سړی او ښځے دواړو باندے غسل واجبیږی. د منی په وتلو سره. یا دُخول سره. او په ښځه باندے د حیض او نفاس نه هم غسل

عَنْ قَتَادَةَ اَنَّ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُمْ اَنَّ اُمَّ سُلَيْمٍ حَدَّثَتْ اَنَّهَا سَأَلَتْ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَرْاَةِ تَرٰى فِيْ مَنَامِهَا مَا يَرَى الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا رَأَتْ ذٰلِكَ الْمَرْاَةُ فَلْتَغْتَسِلْ فَقَالَتْ اُمُّ سُلَيْمٍ وَاسْتَحْيَيْتُ مِنْ ذٰلِكَ قَالَتْ وَهَلْ يَكُوْنُ هٰذَا فَقَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ فَمِنْ اَيْنَ يَكُوْنُ الشَّبَهُ اِنَّ مَاءَ الرَّجُلِ غَلِيْظٌ اَبْيَضُ وَمَاءَ الْمَرْاَةِ رَقِيْقٌ اَصْفَرُ فَمِنْ اَيِّهِمَا عَلَا اَوْ سَبَقَ يَكُوْنُ مِنْهُ الشَّبَهُ

د قتادهؓ نه روایت دے چه انس بن مالکؓ هغوئ ته حدیث بیان کړو چه اُمِّ سُلیمؓ د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو. کۀ چرے ښځه په خوب کښې اووینی هغه څۀ چه هغه سړی وینی؟ هغۀ اوفرمائیل هر کله چه ښځه داسے اووینی نو غسل به کوی. اُمِّ سُلیمؓ وائی ما له شرم راغے ما اووے داسے څۀ وی؟ (یعنی ښځو ته هم احتلام کیږی) رسول اللهﷺ اوفرمائیل بیشکه داسے کیږی. ګنی بچے د ښځے مشابه څنګه کیږی. د سړی نطفه کلکه او سپینه وی او د ښځے نطفه نرئ او زیړه وی بیا چه کومه دپاسه راشی یا مخکښې شی بچے د هغے مشابه کیږی[1]

واجبیږی او حۀ چه د ښځے نه پیدا شی او وینه لړه هم او نه وینی نو په هغے باندے غسل واجب دے د صحیح قول په موافق دغه شان کۀ چرے د بچی په بدله صرف د غوښے ټکړه پیدا شی یا د وینے قطره او کوم چه غسل ته واجب نۀ وائی هغه اودس لره واجب ګڼړی او زمونږ مذهب دادے چه غسل و جبیږی په منی وتلو سره خواه په شهوت سره اوځی یا بے شهوته یا هسے د اوده کیدو سره وتلی وی. کۀ معلوم شی د هغے وتل یا نا معلوم وی عاقل وی یا مجنون وی. او د منی د وتلو نه دا مراد دے چه بهر راواوځی. اګر کۀ په خوب کښې دا وینی چه جماع ئے وکړه او منی ئے اووته لیکن کۀ په حقیقت کښې منی نه وی وتلے نو غسل نۀ واجبیږی دغه شان کۀ منی حرکت اوکړی یا بهر رااونه اوځی بیا هم غسل نشته کۀ چرے د چا منی راوتل شروع شی او هغه په مانځۀ کښې وی. او د کپړے د پاسه ذکر لره سره اونخلی تر دے پورے چه منی بنده شی نو د هغۀ مونځ به صحیح کیدے شی. او د ښځے حکم د سړی د حکم په شان دے انتهی مختصراً

[1] یعنی بچے د سړی او د ښځے د دواړو د نطفے د یو ځائے کیدو نه پیدا کیږی بیا چه د چا نطفه غالبه وی بچے د هغۀ په شکل وی او هر کله چه ښځے نطفه اوشوه نو د هغے وتل او احتلام کیدل ممکن دی

نووی رحمه الله ویلی دی دا حدیث اصلِ عظیم دے د منی د صفت په بیان کښې چه حالت د صحت کښې علماؤ ویلی دی چه د سړی منی ټینګه او سپینه وی. او په ټوپ سره رو رو راوځی. او د شهوت سره راوځی او په راوتو کښې ئے خوند راځی او هر کله چه د قطره په شکل کښې راوځی دغه وخت شهوت ضعیف کیږی. او د هغے بوئ داسے وی لکه د کهجورے د ګابهه. نزدے د اوړو بوئ ته وِ او چه شی بعضو ویلی دی د متیازو پشان بوئ کوی دا خو اصل حالت دے د منی هر کله چه سړے صحیح او سلامت وی په څه بیمارئ کښې مبتلا نه وی او کۀ چرے بیمار وی نو د سړی منی هم زیړه او نرئ کیږی. یا آلات منی ضعیف کیږی. نو هغه په ټوپ سره نه اوځی بلکه داسے بهیږی بغیر د لذت او شهوت نه. یا په کثرت جماع سره سره کیږی د یخنئ پشان او کله د خالص وینے په شان راوځی لیکن کۀ چرے منی سره هم راوځی بیا هم پاکه ده او په هغے سره غسل واجبیږی او د منی درے خاصے دی یو خو د شهوت سره وځی او د هغے د وتلو نه پس سستی راشی دویم بوئ د کهجورے د ګابهے پشان. دریم رو رو څو څله راوځی. ددے نه هره یوه خبره پوره ده د هغے د منی کیدو دپاره او د دریو خبرو کیدل ضروری نه دی. کۀ چرے د هغه دریو نه یو امر نه وی نو ګمان غالب به داوی چه هغه منی نه ده او د ښځے منی زیړه او نرمه وی او کله سپینه هم وی د هغے پیژندل د دوو اوصافو نه دے یو خو بوئ د سړی د

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَأَلَتْ امْرَأَةٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْمَرْأَةِ تَرَى فِي مَنَامِهَا مَا يَرَى الرَّجُلُ فِي مَنَامِهِ فَقَالَ إِذَا كَانَ مِنْهَا مَا يَكُونُ مِنَ الرَّجُلِ فَلْتَغْتَسِلْ

د انس بن مالک نه روایت دے چه یوے ښځے د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کۀ ښځه په خوب کښې هغه اووینی کوم چه نارینه وینی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل کۀ چرے د هغې نه هغه څیز اوځی کوم چه د سړی نه اوځی (یعنی منی اوځی) نو غسل به کوی.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ جَاءَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ فَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ إِذَا احْتَلَمَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ إِذَا رَأَتْ الْمَاءَ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ يَا رَسُولَ اللهِ وَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ فَقَالَ تَرِبَتْ يَدَاكِ فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا

د اُمُّ المؤمنین اُمِّ سلمه ؓ نه روایت دے چه اُمِّ سُلیم ؓ د رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو یا رسول الله، الله تعالی د رښتونے خبرے نه شرم نۀ کوی. ولے په ښځه باندے غسل واجب دے. هر کله چه هغے ته احتلام اوشی؟ او اوبۀ اووینی (یعنی منی نړه). رسول الله ﷺ اوفرمائیل او ام سلمه اووے یا رسول الله! ولے ښځے ته هم احتلام کیدے شی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا په لاسونو د خاوره اولګی. چه احتلام نۀ کیږی نو بیا بچے څنګه د مور مشابه کیدے شی[1]

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَغْتَسِلُ الْمَرْأَةُ إِذَا احْتَلَمَتْ وَأَبْصَرَتْ الْمَاءَ فَقَالَ نَعَمْ فَقَالَتْ لَهَا عَائِشَةُ تَرِبَتْ يَدَاكِ وَأُلَّتْ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه یوے ښځے د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. ولے ښځه به غسل کوی هر کله چه هغے ته احتلام اوشی او اوبۀ اووینی (یعنی منی) هغۀ ورته اوفرمائیل آو. حضرت عائشے ؓ ورته اوویل ستا په لاسو د خاوره اولګی او هغه د زخمی شی په وسلے سره. رسول الله ﷺ اوفرمائیل

منی د بوی په شان دوبه خوند د هغے د وتلو په وخت او : هغې د وتلو نه پس د شهوت کمیدل. بیا چه منی په څۀ شان او په کوم حال اوځی د هغې په وتلو سره غسل واجبیږی انتهی ما قال النووی

[1] دے حدیث نه او د نورو څو حدیثونو نه دا خبره ثابتیږی چه حیاء او شرم هم د الله جل جلاله یو صفت دے خو څنګه چه د هغۀ نور صفتونه د مخلوقاتو د صفتونو پشان نۀ دی دغه شان دا صفت هم د مخلوق پشان نۀ دے. د سلفو دغه اعتقاد دے او ورستو بعضو متکلمینو چه هغوی د الله تعالی په صفاتو کښې د تاویل طریقه اختیار کړے ده هغه صحیح او ښۀ نۀ ده بلکه یو قسم له بدعت دے په دین کښې اهل حدیثو تاویل کونکو لره دیر بد ګنڑلی دی

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعِيهَا وَهَلْ يَكُونُ الشَّبَهُ إِلاَّ مِنْ قِبَلِ ذٰلِكِ إِذَا عَلَا مَاؤُهَا مَاءَ الرَّجُلِ أَشْبَهَ الْوَلَدُ أَخْوَالَهُ وَإِذَا عَلَا مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَهَا أَشْبَهَ أَعْمَامَهُ

پریږدوه دے لره. آخر بچے چه کوم مشابه وی د پلار او د مور هغه د کوم ځائے نه وی. هر کله چه د ښځے نطفه د سړی په نطفه باندے غالبه شی نو بچے د خپلو ماماګانو د خاندان مشابه کیږی او کله چه د سړی نطفه د ښځے په نطفه باندے غالبه راشی نو بچے د پلار د خاندان په شکل جوړیږی.[1]

باب بَيَانِ صِفَةِ مَنِيِّ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ وَأَنَّ الْوَلَدَ مَخْلُوقٌ مِنْ مَائِهِمَا

باب: د ښځے او د سړی د منیٔ بیان او د هغے خبرے چه بچے د دواړو د نطفے نه پیدا کیږی

عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُ قَالَ كُنْتُ قَائِمًا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ حِبْرٌ مِنْ أَحْبَارِ الْيَهُودِ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ فَدَفَعْتُهُ دَفْعَةً كَادَ يُصْرَعُ مِنْهَا فَقَالَ لِمَ تَدْفَعُنِي فَقُلْتُ أَلَا تَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ الْيَهُودِيُّ إِنَّمَا نَدْعُوهُ بِاسْمِهِ الَّذِي سَمَّاهُ بِهِ أَهْلُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اسْمِي مُحَمَّدٌ الَّذِي سَمَّانِي بِهِ أَهْلِي فَقَالَ الْيَهُودِيُّ جِئْتُ أَسْأَلُكَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَنْفَعُكَ شَيْءٌ إِنْ حَدَّثْتُكَ قَالَ

د ثوبان نه روایت دے چه مولی (ازاد شده غلام) وو د رسول الله ﷺ. هغه وائی زهٔ د رسول الله ﷺ سره ولاړوم چه په دے کښ د یهودو د عالمانو نه یو عالم راغلے. او اوئے ویلی السّلامُ علیك یا محمد. ما هغه له یو دهکا ورکړه. او هغه غورځیدو غورځیدو بچ شو. هغهٔ اووے. تا دهکا ولے راکړه. ما اووے. تهٔ (نوم اخلے د حضرت آو) رسول الله ﷺ ولے نهٔ وائے هغهٔ اووے. مونږ دهٔ ته په هغه نوم سره آواز کوو کوم چه د دهٔ کور والو ایخے دے. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. خما نوم کوم چه کور والو ایخے دے. هغه محمد دے یهودی اووے چه زهٔ ستا نه د څهٔ تپوس کولو دپاره راغلے یم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. حقه خبره ده کهٔ چرے زهٔ تا ته څهٔ اوښایم نو تاته به فائده وی. هغهٔ اووے. زهٔ به ئے په غوږو سره واورم. بیا رسول الله ﷺ په یو لختے سره چه د هغهٔ په لاس کښ وه په زمکه باندے وو کرښه راښکوده (لکه چه څوک د سوچ په وخت دغه شان کوی) او اوئے فرمائیل. تپوس کوه. یهودی اووے. په

[1] په حدیث کښ د اَلْتَ لفظ دے. د هغے ترجمه دغه ده کومه چه بیان شوه. یعنی لاس د زخمی شه او د شو کولے شی په اَله سره. چه هغه یو اسلحه ده. نووی دے ته صحیح ویلی دی. لیکن په مجمع البحار کښ دی. چه صحیح الت دے. یعنی چغه کړه حضرت عائشے رضی الله عنها.

أَسْمَعُ بِأُذُنَيَّ فَنَكَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُودٍ مَعَهُ فَقَالَ سَلْ
فَقَالَ الْيَهُودِيُّ أَيْنَ يَكُونُ النَّاسُ يَوْمَ
تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ
وَالسَّمٰوَاتُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمْ فِي الظُّلْمَةِ دُونَ الْجِسْرِ
قَالَ فَمَنْ أَوَّلُ النَّاسِ إِجَازَةً قَالَ فُقَرَاءُ
الْمُهَاجِرِينَ قَالَ الْيَهُودِيُّ فَمَا تُحْفَتُهُمْ
حِينَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَالَ زِيَادَةُ كَبِدِ
النُّونِ قَالَ فَمَا غِذَاؤُهُمْ عَلَى إِثْرِهَا قَالَ
يُنْحَرُ لَهُمْ ثَوْرُ الْجَنَّةِ الَّذِي كَانَ يَأْكُلُ
مِنْ أَطْرَافِهَا قَالَ فَمَا شَرَابُهُمْ عَلَيْهِ قَالَ
مِنْ عَيْنٍ فِيهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيلًا قَالَ
صَدَقْتَ قَالَ وَجِئْتُ أَسْأَلُكَ عَنْ شَيْءٍ
لَا يَعْلَمُهُ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ إِلَّا
نَبِيٌّ أَوْ رَجُلٌ أَوْ رَجُلَانِ قَالَ يَنْفَعُكَ إِنْ
حَدَّثْتُكَ قَالَ أَسْمَعُ بِأُذُنَيَّ قَالَ جِئْتُ
أَسْأَلُكَ عَنِ الْوَلَدِ قَالَ مَاءُ الرَّجُلِ
أَبْيَضُ وَمَاءُ الْمَرْأَةِ أَصْفَرُ فَإِذَا اجْتَمَعَا
فَعَلَا مَنِيُّ الرَّجُلِ مَنِيَّ الْمَرْأَةِ أَذْكَرَا
بِإِذْنِ اللهِ وَإِذَا عَلَا مَنِيُّ الْمَرْأَةِ مَنِيَّ
الرَّجُلِ آنَثَا بِإِذْنِ اللهِ قَالَ الْيَهُودِيُّ لَقَدْ
صَدَقْتَ وَإِنَّكَ لَنَبِيٌّ ثُمَّ انْصَرَفَ

کومه ورځ چه دا زمکه لو آسمان بدل شی لو نور زمکه آسمان شی نو خلق به دغه وخت چرته وی؟ رسول الله ﷺ ورته لوفرمائیل خلق به هغه وخت په تیاره کښې د پل صراط سره ولاړ وی هغهٔ تپوس لوکړو بیا به د تولو نه مخکښې کوم خلق د دغه پُل نه پورے اوځی؟ هغه لوفرمائیل په مهاجرینو کښې چه کوم محتاج دی (د مهاجرینو نه مراد هغه خلق دی کومو چه د پیغمبر ؑ سره کور کلے پریخودو او وتلی وو. او د لوږے تندے په تکلیف باندے ئے صبر کړے وو. او د دنیا نه ئے نفرت اختیار کړے وو) یهودی اووے بیا چه دغه خلق جنت ته لاړ شی نو د هغوی به اولنۍ خوراک څۀ وی؟ هغهٔ اوفرمائیل د مهی د زړهٔ ټکړه (چه هغه زیاته مزیداره او مقوی وی) هغه اووے. بیا به د سحر خوراک څۀ وی؟ حضرت ؑ اوفرمائیل. هغه غویۍ به حلال کړے شی د هغوی دپاره کوم چه په جنت کښې اوسیدل او څریدل کړی وو. بیا هغهٔ تپوس اوکړو. چه دغه اوخوری نو بیا به څۀ څکی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل د یوے چینے اوبۀ چه د هغے نوم سلسبیل دے. هغه یهودی اووے. تا رښتیا اوفرمایل او زۀ ستا نه د یو داسے خبرے د تپوس دپاره راغلے یم چه هغه په دینا کښې چا ته پته نشته سوا د نبی نه کیدے شی چه یو یا دوه سړی پرے پوهه وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل کۀ چرے زۀ تا ته هغه خبره اوښایم نو تا ته به فائده وی؟ هغه اووے زۀ به ئے په خپلو غوږونو سره واورم. بیا هغه اووے زۀ بچی لره تپوس کوم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل. چه د سړی اوبۀ سپینے دی او د ښځے اوبۀ زیړے دی هر کله چه دا دواړه یو ځائے شی او د سړی منی د ښځے په منۍ باندے غالبه شی نو د خدائے په حکم سره هلک پیدا کیږی او کله چه د ښځے منی غالبه شی د سړی په منۍ باندے نو د خدائے په حکم سره جینۍ

فَذَهَبَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ سَأَلَنِي هٰذَا عَنِ الَّذِيْ سَأَلَنِي عَنْهُ وَمَا لِي عِلْمٌ بِشَيْءٍ مِنْهُ حَتَّى أَتَانِيَ اللهُ بِهِ

پيدا كيږي يهودي اووے. تا رښتيا اوفرمايل او بيشكه ته پيغمبرئے بيا چه هر كله د هغه شا شوه او روان شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ده چه د كومو خبرو خما نه تپوس اوكړو هغه ما ته څه معلومے نه وے تر دے پورے چه الله تعالى جل شانه ماته اوښودلے

بَاب صِفَةِ غُسْلِ الْجَنَابَةِ

باب د جنابت د غسل بيان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ يَبْدَأُ فَيَغْسِلُ يَدَيْهِ ثُمَّ يُفْرِغُ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ فَيَغْسِلُ فَرْجَهُ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ يَأْخُذُ الْمَاءَ فَيُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي أُصُولِ الشَّعْرِ حَتَّى إِذَا رَأَى أَنْ قَدِ اسْتَبْرَأَ حَفَنَ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ ثُمَّ أَفَاضَ عَلَى سَائِرِ جَسَدِهِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چه به كله د جنابت غسل كولو نو وړمبى به ئے دواړه لاس وينځل بيا به ئے ښى لاس سره اُوبۀ غورځولے او په كس لاس سره به ئے شرمګاه وينځلو بيا به ئے اودس اوكړو هغه شان څنګه چه به ئے د مانځۀ د تياريدو دپاره كولو بيا به ئے اوبۀ واخستے او په خپلو ګوتو به ئے د ويختو په ويخونو باندے واچولے بيا چه به هر كله هغه اوكتل چه ويخته لامده شو نو په خپل سر باندے به ئے په دواړو لاسونو سره ښے ډكے درے لپے اوبۀ اوغورځولے بيا به ئے په ټول بدن باندے اُوبۀ اوغورځولے او بيا به ئے دواړه خپے وينځلے[1]

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د اُمّ المؤمنين عائشے نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چه به كله د

---

[1] نووي ويلى دى زمونږ د ملګرو په نز د جنابت د غسل كمال دا دے چه اول به دواړو لاسونو لره د مړوندونو پورے په لوښى كښى د لاس منډلو نه وړاندے اووينځى بيا په شرمګاه او په بدن باندے چه كومه پليتى لګيدلې وى هغے لره اووينځى بيا به اودس اوكړى په څه شان چه د مانځۀ دپاره اودس كوى بيا به ټولے ګوتے په اوبو كښى اومندى او يو چونګ به راوخلى او د سر په ويختو او د ږيرے په ويختو كښى به د هغے نه خلال اوكړى بيا به په خپل سر باندے درے ډكے لپے او بۀ توئ كړى او د غوږو او نوم او د كناتو خبر به واخلى او د خپو د ګوتو او هغه ټولو خايونو ته به اُوبۀ اورسوى بيا به درے خله په ټول بدن باندے اوبۀ اوغورځوى. او هر خائے ته به اوبۀ ښۀ اورسوى. او مستحب دا ده چه د ښى طرفنه شروع اوكړى او د قبلے په طرف مخ كړى او كينى او ورسته د فراغت نه دويمه كلمه اولولى أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ د غسل نه وړاندے به نيت اوكړى په دے ټولو څيزونو كښى نيت او په ټول بدن باندے اوبۀ اچول او هر خائے ته برابر رسول فرض دى او شرط دا دے چه بدن د پليتى نه پاك شى او باقى ټول څيزونه سنت دى او مږل د بدن واجب نه دى مګر د مالك او مزنى په نز واجب دى دغه شان اودس هم په غسل جنابت كښى واجب نه دے مګر د داؤد ظاهري په نز واجب دى انتهى مختصراً

وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ ثُمَّ تَوَضَّأَ مِثْلَ وُضُوئِهِ لِلصَّلَاةِ

جنابت غسل کوو. نو اول به ئے دواړه لاس وینخل په لوښی کښ د منډلو نه مخکښ. بیا به ئے اودس اوکړو. لکه څنګه چه به ئے د مانځه دپاره اودس کولو

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَتْنِي خَالَتِي مَيْمُونَةُ قَالَتْ أَدْنَيْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلَهُ مِنَ الْجَنَابَةِ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ ثُمَّ أَفْرَغَ بِهِ عَلَى فَرْجِهِ وَغَسَلَهُ بِشِمَالِهِ ثُمَّ ضَرَبَ بِشِمَالِهِ الْأَرْضَ فَدَلَكَهَا دَلْكًا شَدِيدًا ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ أَفْرَغَ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ مِلْءَ كَفِّهِ ثُمَّ غَسَلَ سَائِرَ جَسَدِهِ ثُمَّ تَنَحَّى عَنْ مَقَامِهِ ذَلِكَ فَغَسَلَ رِجْلَيْهِ ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِالْمِنْدِيلِ فَرَدَّهُ

د ابن عباس ؓ نه روایت دے چه خما ترور میمونے بیان کړے دے چه هغوی اوبۀ ایخودے وے د رسول الله ﷺ د غسل جنابت دپاره هغۀ دواړه ورغوی اووینځل دوه ځله یا درے ځله بیائے لاس په لوښی کښ دننه کۀ او په شرمګاه ئے اوبۀ واچولے او په ګس لاس سره ئے اووینځلو. بیائے ګس لاس په زمکه باندے په زور سره اومږلو. بیائے اودس اوکړو. لکه څنګه چه ئے د مانځۀ دپاره کولو بیائے په خپل سر باندے درے چونګه اوبۀ واچولے بیائے ټول بدن لره او وینځلو بیا د هغه ځائے نه بدل شو (بل ځائے ته) او خپے ئے اووینځلے بیا ما رومال راوړو او راغلم د بدن د وچولو دپاره خو هغۀ هغه رومال لره وانۀ خستو[1]

[1] نووی ؒ وئیلی دی د دے حدیث نه معلومیږی چه لاس او خپے اوچول غور نه دی او زمونږ د علماؤ په دے کښ پنځۀ قولونه دی یو خو دا چه اوچول مستحب دی (او اوچولو ته مکروه نه وائی) دویم دا چه پاکول مکروه دی یعنی اوچول دریمه دا چه اوچول او نه اوچول برابر دی څلورم دا چه اوچول مستحب دی پنځمه دا چه په ګرمئ کښ مکروه دی په یخنئ کښ مکروه نه دی او د صحابو نه په دے کښ درے مذهبونه منقول دی یو خو دا چه اوچول جائز دی څۀ قباحت نشته په اودس او غسل دواړو کښ د انس بن مالک رضی الله عنه او سفیان ثوری رحمه الله دغه قول دے. دویمه دا چه اوچول مکرو دی. په اودس او غسل دواړو کښ د ابن عمر رضی الله عنه او ابن ابی لیلی رحمه الله دغه قول دے دریمه دا چه ه اودس کښ مکروه دی په غسل کښ مکروه نه دی. د ابن عباس رضی الله عنه دغه قول دے (او د نه اوچولو په باب کښ یو حدیث دا دے دویم صحیح حدیث بل دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم غسل اوکړو را اووتو او د هغۀ د سر نه اوبۀ څڅیدلے او اوچولو لره یو جماعت د صحابو رضی الله عنهم نقل کړے دے لیکن د هغے اسناد ضعیف دی ترمذی وئیلی دی په دے باب کښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه څۀ ثابت نه دی. نووی رحمه الله

بعضو د دے حدیث نه اوچول جائز کړی دی. ولے چه په لاس سره اوبۀ څڅول او په کپړه سره اوچول دواړه برابر دی. نووی رحمه الله وئیلی دی زمونږ د بعضے ملګرو په دے کښ درے قولونه دی یو دا چه نۀ څڅول غوره دی او څڅولو ته ئے مکروه نه دی وئیلی. دویمه دا چه مکروه دی دریمه دا چه مباح دی او دغه صحیح دے. ولے چه د دغه حدیث نه اباحت ثابتیږی اود ممانعت څۀ دلیل نشته (انتهی)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ دَعَا بِشَيْءٍ نَحْوَ الْحِلَابِ فَأَخَذَ بِكَفِّهِ بَدَأَ بِشِقِّ رَأْسِهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ الْأَيْسَرِ ثُمَّ أَخَذَ بِكَفَّيْهِ فَقَالَ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ

د أمُ المؤمنين عائشې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چه به کله د جنابت غسل کوو. يو لوښے به ئے د حلاب برابر د اوبو اوغوښتو (حلاب هغه لوښے دے چه په هغے کښې د اوښے نه پئ لوشلے شي) بيا به ئے په لاس سره اوبۀ واخستے. او اول به ئے د سر ښى طرف وينځلو او بيا به ئے گس طرف وينځلو. دد ے نه پس به ئے په دواړه لاسه سره اوبۀ واخستے او په سر به ئے واړولے[1].

بَابُ الْقَدْرِ الْمُسْتَحَبِّ مِنَ الْمَاءِ فِي غُسْلِ الْجَنَابَةِ وَغُسْلِ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ فِي إِنَاءٍ وَاحِدٍ فِي حَالَةٍ وَاحِدَةٍ وَغُسْلِ أَحَدِهِمَا بِفَضْلِ الْآخَرِ

باب : د جنابت په غسل کښې څومره اوبۀ اخستل غوره دى. او غسل كول د سړى او ښځے د يو لوښى نه په يو حالت کښې او غسل كول د يو د بل په بچ شوو اوبو سره

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ إِنَاءٍ هُوَ الْفَرَقُ مِنَ الْجَنَابَةِ

د أمُ المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به غسل كوو په يو لوښى سره . چه په هغے کښې به درے دړئ اوبۀ راتلے (يعنى اووۀ اتۀ سيره) د جنابت نه[2].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ فِي الْقَدَحِ وَهُوَ الْفَرَقُ وَكُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَهُوَ فِي الْإِنَاءِ الْوَاحِدِ وَفِي حَدِيثِ

د أمُ المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ غسل كولو په يو پياله سره او هغه فرق وه (فرق هغه لوښى ته وائى چه په هغے کښې درے صاع اوبۀ راځى) او ما او هغۀ به د يو

---

[1] : صحيح حلاب دے. په كسر د حاء او تخفيف د لام سره . او بعضو دے لره جُلّاب لوستے دے . په ضمّے د جيم او په شد د لام سره او مراد د هغے نه گلاب دے. ليكن هروى رحمه الله دد ے نه انكار كړے دے. او وئيلى دى چه صحيح حِلاب دے.

[2] نووى وئيلى دى خاوندانو د اسلام اجماع كړے ده. چه د اودس او غسل دپاره د اوبو مقدار معين نۀ دے. بلكه لږے او ډيرے يو شان كافى دى په شرط دد ے چه اندامونه لامدۀ شى. او مستحب داده چه په اودس كښې ذ يو سير نه كم نۀ وى. او په غسل كښې د يو دړئ نه كم نۀ وى. او اوگے يعنى صاع د پنځۀ رطلو او د دريو رطلو وى. او مُد د يو رطل او د دريو رطلو وى. او زمونږ بعضے ملگرو وئيلى دى چه دلته هغه صاع مراد دے. چه هغه د اتو رطلو وى. بهر حال اوبۀ بيكاره بهيَول منع دى. اگر كۀ د سيند په غاړه وى. او غسل يا اودس كوى. دا ممانعت تنزيهى دے. او بعضو وئيلى دى اسراف حرام دے. انتهى

سُفْيَانَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ قَالَ قُتَيْبَةُ قَالَ سُفْيَانُ وَالْفَرَقُ ثَلَاثَةُ آصُعٍ

لوښي نه غسل کولو . سفیان ویلي دي چه فرق د دریوو دریو صاعو وي[1].

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ أَنَا وَأَخُوهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ فَسَأَلَهَا عَنْ غُسْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْجَنَابَةِ فَدَعَتْ بِإِنَاءٍ قَدْرِ الصَّاعِ فَاغْتَسَلَتْ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَهَا سِتْرٌ وَأَفْرَغَتْ عَلَى رَأْسِهَا ثَلَاثًا قَالَ وَكَانَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذْنَ مِنْ رُءُوسِهِنَّ حَتَّى تَكُونَ كَالْوَفْرَةِ

د ابوسلمه بن عبد الرّحمنؓ نه روایت دے چه زهٔ او د حضرت عائشےؓ رضاعي (یعني د پیو د رشتے) رور (عبد الله بن یزید) د هغے خواله لاړو. او غسل د جنابت ئے تر نه اوتپوسلو. چه رسول اللهﷺ به څنګه کوو؟ هغوی اووے. یو لوښے به ئے اوغوښتلو چه په هغے کښې به ډک صاع اوبهٔ راتلے اولامبل به ئے زمونږ اود هغهٔ په مینځ کښې یوه پرده وه. هغو په خپل سر باندے درے ځله اوبهٔ واچولے. اوسلمهؓ ویلي دي د رسول اللهﷺ بیبیانو به ویښتهٔ کټ کړي وو. او د غوږونو پورے ویښتهٔ ئے ساتلي وو[2].

[1] نووي رحمه الله ویلي دي د سړي او ښځے دواړو طهارت کول د یو لوښي نه جائز دي. په اجماع د اهل اسلام. لیکن د ښځے طهارت کول د سړي د طهارت نه په بچ شوو اوبو سره هغه هم په اجماع سره جائز دي. او د سړي طهارت کول د ښځے د طهارت نه په بچ شوو اوبو سره زمونږلو د مالک رحمه الله او ابوحنیفهؒ او جمهور علماؤ په نزد جائز دي. او په هغے کښې کراهت هم نشته په دلیل د احادیثو صحیحو. او د احمد بن حنبلؒ او د داؤد ظاهري په نزد د ښځے نه په بچ شوو اوبو سره د سړي طهارت صحیح نهٔ دے. په شرط د دے چه ښځے هغه اوبو لره د خان سره خلوت نه وړلي وي. او هغے لره ئے استعمال کړي وي. او د عبد الله بن سرجس او حسن بصري رحمهما الله نه هم دغه شان منقول دي او مختار د جمهورو قول دے. ولے چه د احادیث صحیحو نه دا امر ثابت دے. چه رسول اللهﷺ د خپلو بیبیانو سره غسل کړے دے. او هر یو د بل بچ شوے اوبهٔ استعمال کړي دي. او خلوت لره په دے کښې څهٔ دخل نشته او په یو حدیث کښې راغلي دي چه رسولﷺ د خپلے یوے بي بي په بچ شوو اوبو سره غسل کړے دے. روایت کړے دے دے لره ابوداؤد او ترمذي، او نسائي او اصحابو د سنتو. ترمذي ویلي دي حدیث حسن صحیح دے. او هغه چه کوم د ممانعت حدیث دی. د حکم بن عمرو نه منقول دے. هغه ضعیف دے. د حدیثو امامانو هغے ته ضعیف ویلے دے (لکه امام بخاري) ، یا مراد د هغے نه دا دے چه کومے اوبهٔ د ښځے د اندامونو نه اوغورځیږي هغه خو مستعملے دي په هغے سره غسل صحیح نهٔ دے. یا هغه ممانعت د استحباب دپاره دے. والله اعلم انتهی

[2] د ظاهر حدیث نه معلومیږي چه ابوسلمه او عبد الله بن یزیدؒ د هغهٔ سر او د بدن پورته حصه اولیده ګنی د هغوی په مخکښې د اوبو د غوښتلو نه او دلامبلو نه څهٔ فائده نهٔ وه. عبد الله خوئے رضاعي رور وو. او ابوسلمهؒ ئے رضاعي خور وه. ولے چه امّ کلثوم بنت ابوبکرؓ به هغه په خوروَلي وو. او دا دواړه محرم دي. او محرم لره پورته بدن لیدل صحیح دي. په حدیث کښې د وفره لفظ دے. اصمعي ویلي دي وفره دلمّه نه پورته دے. او لِمّه هغه ویښتو ته ویلے شي چه هغه د اوګو پورے وي. او نورو ویلي دي چه وفره د لمّه نه کم دے. یعني کوم ویښته چه د غوږونو پورے وي. چه وفره هغه ویښتهٔ دي کوم چه په غوږونو باندے وي. قاضي عیاضؒ ویلي دي. د عربو ښځے خو کونسۍ ویستل کوي. او د رسول اللهﷺ بیبیانو د هغهٔ د وفات نه پس شاید کړي وي د زینت پریخودلو دپاره. نووي وائيؒ د قاضي

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ بَدَأَ بِيَمِينِهِ فَصَبَّ عَلَيْهَا مِنَ الْمَاءِ فَغَسَلَهَا ثُمَّ صَبَّ الْمَاءَ عَلَى الْأَذَى الَّذِي بِهِ بِيَمِينِهِ وَغَسَلَ عَنْهُ بِشِمَالِهِ حَتَّى إِذَا فَرَغَ مِنْ ذٰلِكَ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ قَالَتْ عَائِشَةُ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَنَحْنُ جُنُبَانِ

د ابو سلمه بن عبد الرّحمن نه روایت دے. حضرت عائشے ویلی دی چه رسول الله ﷺ به غسل کوو نود ښي لاس نه به ئے شروع کوله اول به ئے په ښي لاس اوبه واچولے اوښي لاس به ئے اووینځلو بیا به ئے په ښي لاس سره اوبه اچولے او په ګس لاس باندے چه په بدن باندے به کومه پلیتي وه هغه به ئے اووینځله هر کله چه به ددغے نه اوزګار شو نو په سر باندے ئے اوبه واچولے. حضرت عائشه وائی ما او رسول الله ﷺ به د جنابت غسل په یو لوښی سره کولو

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَغْتَسِلُ هِيَ وَالنَّبِيُّ ﷺ فِي إِنَاءٍ وَاحِدٍ يَسَعُ ثَلَاثَةَ أَمْدَادٍ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذٰلِكَ

د اُمُّ المؤمنین عائشه نه روایت دے چه ما او رسول الله ﷺ به په یو لوښی سره غسل کولو چه په هغے کښې درے مُد یا دے ته نږدے اوبه راتلے [1]

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ ﷺ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ تَخْتَلِفُ أَيْدِينَا فِيهِ مِنَ الْجَنَابَةِ

د اُمُّ المؤمنین عائشه نه روایت دے چه ما او رسول الله ﷺ غسل کوو د یو لوښی نه د دواړو لاس به په هغے کښې پړیوتو او دا غسل د جنابت وو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ بَيْنِي وَبَيْنَهُ وَاحِدٍ فَيُبَادِرُنِي حَتَّى أَقُولَ دَعْ

د اُمُّ المؤمنین عائشه نه روایت دے چه ما او رسول الله ﷺ غسل کوو د یو لوښی نه چه هغه زما او د هغهٔ په مینځ کښې وو. هغهٔ به زر زر اوبهٔ اخستے تردے پورے چه ما به اووے. لږ اوبهٔ زما دپاره

عیاض په شان نورو علماؤ هم ویلی دی او دا ګمان نشته دے چه هغوی به د رسول الله ﷺ په حیات کښې داسے کړی وی. او دے حدیث نه دا خبره وتلے ده چه ښځو لره ویختهٔ کمول صحیح دی. انتهٰی

[1] قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی مراد دادے چه د هر یو دپاره به درے مُده اوبهٔ اخستلے شوے یا د مُد نه مراد صاع دے ددے دپاره چه یو شان شی د هغه حدیث چه په هغے کښې د فرق ذکر دے. یا به دغه شان په څهٔ وخت کښې شوی وی. نووی رحمه الله ویلی دی په دے حدیث کښې د درے مُد ذکر دے. او په دویم روایت کښې دادے چه د یو فرق نه به هغه غسل کوو. او په یو روایت کښې دی حضرت عائشے په یو صاع سره غسل اوکړو. او په یو روایت کښې د پنځو مکوکو بیان دے په غسل کښې او یو مکوک په اودس کښې او په یو روایت کښې یو صاع د غسل دپاره او یو مُد د اودس دپاره راغلے دے. او په یو روایت کښې په یو مُد سره اودس او غسل د یو صاع د پنځو مُدو پورے. امام شافعی او علماؤ ویلی دی چه دا اختلاف په اعتبار د موقعے او حالت او کم والی ډیر والی د اوبو وو. بره حال د طهارت دپاره د اوبو څهٔ مقدار مقرر نهٔ دے.

لِي دَعْ لِي قَالَتْ وَهُمَا جُنُبَانِ

پرېږه او دواړه به جنب وو

عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَغْتَسِلُ هِيَ وَالنَّبِيُّ ﷺ فِي إِنَاءٍ وَاحِدٍ۔

د اُمُّ المؤمنين ميمونة نه روايت دے چه هغې او نبي كريم ﷺ غسل كولو د يو لوښي نه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَغْتَسِلُ بِفَضْلِ مَيْمُونَةَ

د ابن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د ميمونې نه په پاتې شوو اوبو سره غسل كولو

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ كَانَتْ هِيَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلَانِ فِي الْإِنَاءِ الْوَاحِدِ مِنَ الْجَنَابَةِ

د اُمُّ المؤمنين سلمهؓ نه روايت دے چه هغې او رسول الله ﷺ به د جنابت غسل د يو لوښي نه كولو.

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ بِخَمْسِ مَكَاكِيكَ وَيَتَوَضَّأُ بِمَكُّوكٍ وَقَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى بِخَمْسِ مَكَاكِيَّ

د انسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به په پنځهٔ مكوك سره غسل كولو. او په يو مكوك سره به ئے اودس كولو. (د مكوك نه مراد مُد دے)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ

د انسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به په يو مُد سره اودس كوو. او د يو صاع نه واخله تر پنځهٔ مُدو پورے به ئے غسل كولو.

عَنْ سَفِينَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُغَسِّلُهُ الصَّاعُ مِنَ الْمَاءِ مِنَ الْجَنَابَةِ وَيُوَضِّئُهُ الْمُدُّ

د سفينهؓ نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ لره يو صاع اوبهٔ د جُنابت د غسل دپاره. او يو مُد اوبهٔ د اودس كولو دپاره پوره وے.

عَنْ سَفِينَةَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ وَيَتَطَهَّرُ بِالْمُدِّ

د سفينهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به په يو صاع اوبو سره غسل كوو. او په يو مُد اوبو سره به ئے اودس كولو[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ إِفَاضَةِ الْمَاءِ عَلَى الرَّأْسِ وَغَيْرِهِ ثَلَاثًا

باب: په سَر وغيره باندے د درے ځله اُوبو اچولو بيان

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ تَمَارَوْا فِي الْغُسْلِ عِنْدَ

د جبير بن مطعمؓ نه روايت دے خلقو جګړه كوله د رسول الله ﷺ په

[1] امام مسلم رحمه الله ويلى دى چه ابوبكر بن ابى شيبه سفينه ته صحابى ويلى دى. او ابو ريحانه وائى چه هغه بوډا شوے وو يعنى سفينه او ما ته د هغهٔ د روايت اعتبار نشته نووى رحمه الله ويلى دى په دے صورت كښې امام مسلم دے حديث لره د نورو حديثو د متابعت په طور باندے نقل كړے دے. نهٔ په دے د اعتماد دپاره.

رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أَغْسِلُ رَأْسِي كَذَا وَكَذَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُفِيضُ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثَ أَكُفٍّ

مخکښې په باره د غسل کښې بعضو اووے. مونږ خو سر لره په دے شان وینځو داسے داسے رسول الله ﷺ اوفرمائیل. زهٔ خو په خپل سره باندے درے چونګه غورځوم[1].

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذُكِرَ عِنْدَهُ الْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ فَقَالَ أَمَّا أَنَا فَأُفْرِغُ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثًا

د جبیر بن مطعم رضی الله عنه نه روایت دے د رسول الله ﷺ په مخکښې د جنابت د غسل ذکر اوشو. حضرت ﷺ اوفرمائیل. زهٔ خو په خپل سر باندے درے خله اوبهٔ اچوم.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ وَفْدَ ثَقِيفٍ سَأَلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا إِنَّ أَرْضَنَا أَرْضٌ بَارِدَةٌ فَكَيْفَ بِالْغُسْلِ فَقَالَ أَمَّا أَنَا فَأُفْرِغُ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثًا قَالَ ابْنُ سَالِمٍ فِي رِوَايَتِهِ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ وَقَالَ إِنَّ وَفْدَ ثَقِيفٍ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے. د ثقیف د طرفنه چه کوم خلق راغلی وو. هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! زمونږ ملک یخ دے. نو غسل به څنګه کوو؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل زهٔ خو په خپل سر باندے درے خله اوبهٔ اچوم.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا اغْتَسَلَ مِنْ جَنَابَةٍ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ مِنْ مَاءٍ فَقَالَ لَهُ الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ إِنَّ شَعْرِي كَثِيرٌ قَالَ جَابِرٌ فَقُلْتُ لَهُ يَا ابْنَ أَخِي كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَكْثَرَ مِنْ شَعْرِكَ وَأَطْيَبَ

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ چه به کله غسل کولو. نو په خپل سر باندے به ئے درے لپے ډکے اوبهٔ اچولے. حسن اووے. خما خو ویختهٔ ډیر زیات دی. جابر رضی الله عنه اووے. اے خما د رور خویه! د رسول الله ﷺ ویختهٔ ستا د ویختو نه زیات وو. او ستا نه غوره وو.

بَاب حُكْمِ ضَفَائِرِ الْمُغْتَسِلَةِ

باب: ښځې به په غسل کښې خپلے کونسۍ پرانزی یا نهٔ به پرانزی

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي فَأَنْقُضُهُ لِغُسْلِ

د اُمّ المؤمنین حضرت اُمّ سلمه رضی الله عنها نه روایت دے. ما اووے یا رسول الله ﷺ! زهٔ خپل سر باندے کونسۍ ترم. ولے د جنابت د غسل دپاره

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی دد ے حدیث نه دا وتلی دی چه په سر باندے درے خله اوبهٔ غورځول په غسل کښې مستحب دی او په دے باندے اتفاق دے. او په سر باندے قیاس شوی دی نو رو اندامونو لره. او لکه څنګه چه په اودس کښې درے درے خله هر یو اندام وینځل مستحب دی دغه شان په غسل کښې هم.

الْجَنَابَةِ قَالَ لَا إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِي عَلَى رَأْسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ

هغې لره پرانژم. هغهٔ ورته اوفرمائیل نه. تالره کافی دی چه په سر بانده د اوبو درے ډکے لپے واچوے. بیا په ټول بدن بانده اُوبهٔ واچوے نو پاکه به شے[1].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو يَأْمُرُ النِّسَاءَ إِذَا اغْتَسَلْنَ أَنْ يَنْقُضْنَ رُءُوسَهُنَّ فَقَالَتْ يَا عَجَبًا لِابْنِ عَمْرٍو هٰذَا يَأْمُرُ النِّسَاءَ إِذَا اغْتَسَلْنَ أَنْ يَنْقُضْنَ رُءُوسَهُنَّ أَفَلَا يَأْمُرُهُنَّ أَنْ يَحْلِقْنَ رُءُوسَهُنَّ لَقَدْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَلَا أَزِيدُ عَلَى أَنْ أُفْرِغَ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثَ إِفْرَاغَاتٍ

د اُمّ المؤمنين عائشهٔ نه روايت دے چه عبد الله بن عمرؓ ښځو لره د غسل په وخت د سر کھولاوولو حکم ورکړو. حضرت عائشےؓ اُووے. حیرانیږم په ابن عمرؓ بانده چه هغه خو د سر کھولاوولو حکم کوی د غسل په وخت نو د سر د خریلو حکم ولے نهٔ ورکوی. زما او رسول اللهﷺ دواړو به د یو لوښی نه غسل کولو. او ما به صرف په خپل سر بانده درے لپے اوبهٔ اړولے[2].

بَابُ اسْتِحْبَابِ اسْتِعْمَالِ الْمُغْتَسِلَةِ مِنَ الْحَيْضِ فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فِي مَوْضِعِ الدَّمِ

باب: کومه ښځه چه د حیض غسل اوکړی هغه چه په کپړه یا مالوچو مشک اولګوی او د وینے په مقام ئے استعمال کړی نو مستحب دی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلَتِ امْرَأَةٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ تَغْتَسِلُ مِنْ حَيْضَتِهَا قَالَ فَذَكَرَتْ أَنَّهُ عَلَّمَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ ثُمَّ

د اُمّ المؤمنين عائشهٔ نه روايت دے چه د رسول اللهﷺ نه یوے ښځے تپوس اوکړو د حیض نه به څنګه غسل کوم؟ هغهٔﷺ اوښودل هغے ته غسل کول بیائے ورته اوفرمایل چه مشک پر لګیدلی وی د مالوچو

[1] نووی رحمه الله ویلی دی زمونږ او د جمهورو مذهب دادے چه په کونسو کښې چه هر کله تولو ویختو ته اُوبهٔ رسیدے شی دتته او بهر نو دهغے کھولاوول ضروری نهٔ دی. او کهٔ چرے بغیر کھولاویدو نه اوبهٔ نهٔ رسیدے نو کھولاوول ئے پکار دی. او د نخعی رحمه الله نه منقول دی چه په هر حال کښې کھولاوول ضروری دی. او د حسن او د طاؤس نه مروی دی. چه د حیض په غسل کښې کھولاوول پکار دی او د جنابت په غسل کښې ضرور نهٔ دی. او زمونږ دلیل د اُمّ سلمه حدیث دی کهٔ چرے د سړی په سر بانده کونسیٔ وی نو د هغے هم حکم د ښځے پشان دے. انتهی

[2] نووی رحمه الله ویلی دی چه عبد الله بن عمر چه کوم د سر د کھولاوولو حکم ورکړو دا په داسے صورت کښې دی. هر کله چه ټولو ویختو ته اوبهٔ نهٔ رسی یا به د هغه مذهب دغه وی. چه سر کھولاوول پکار وی لکه چه د نخعی نه مونږ نقل کړی دی. او هغهٔ ته به د اُمّ سلمه رضی الله عنها او عائشه رضی الله عنها حدیث رسیدلے نهٔ وی. یا دا حکم به په طور د استحباب او احتیاط وی.

تَأْخُذُ فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فَتَطَهَّرُ بِهَا قَالَتْ كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا قَالَ تَطَهَّرِي بِهَا سُبْحَانَ اللهِ وَاسْتَتَرَ وَأَشَارَ لَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ بِيَدِهِ عَلَى وَجْهِهِ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ وَاجْتَذَبْتُهَا إِلَيَّ وَعَرَفْتُ مَا أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ وَقَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي رِوَايَتِهِ فَقُلْتُ تَتَبَّعِي بِهَا آثَارَ الدَّمِ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَسْمَاءَ سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ غُسْلِ الْمَحِيضِ فَقَالَ تَأْخُذُ إِحْدَاكُنَّ مَاءَهَا وَسِدْرَتَهَا فَتَطَهَّرُ فَتُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ تَصُبُّ عَلَى رَأْسِهَا فَتَدْلُكُهُ دَلْكًا شَدِيدًا حَتَّى تَبْلُغَ شُؤُونَ رَأْسِهَا ثُمَّ تَصُبُّ عَلَيْهَا الْمَاءَ ثُمَّ تَأْخُذُ فِرْصَةً مُمَسَّكَةً فَتَطَهَّرُ بِهَا فَقَالَتْ أَسْمَاءُ وَكَيْفَ تَطَهَّرُ بِهَا فَقَالَ سُبْحَانَ اللهِ تَطَهَّرِينَ بِهَا فَقَالَتْ عَائِشَةُ كَأَنَّهَا تُخْفِي ذَلِكَ تَتَبَّعِينَ أَثَرَ الدَّمِ وَسَأَلَتْهُ عَنْ غُسْلِ

یوه پاغونده به واخلي او په هغې سره به پاکي اوکړې هغې اووې څنګه به پاکي کوم. هغهٔ اوفرمایل سبحان الله (حیرانتیا ده چه په دومره ښکاره خبره هم نهٔ پوهیږې) پاکي کوه د هغې سره او پرده اوکړه هغهٔ صفا اوخودل موږ ته او خپل لاس ئې په خلهٔ باندے کیښودهٔ (یعنی د شرم نه هغه داسے اوکړل) حضرت عائشهؓ وائي ما هغه ښخه خپل طرف ته راښکوده. او د رسول الله ﷺ په مطلب زهٔ پوهیدلی وم ما ورته اووے. چه هغه د مشکو پاغونده د وینے په ځائے لګوه (یعنی په شرمګاه) ابن ابی عمر د اَثَرَ الدَّم په ځائے آثَارَ الدَّم اووے[1]

د اُمُّ المؤمنین عائشهؓ نه روایت دے. چه اسماء د شکل لور یا د یزید بن سکن لور) تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه چه ز حیض غسل به څنګه کوم؟ هغهٔ اوفرمائیل. چه اول به د بیرے د اُونے دپاڼو اوبهٔ واخلي او په هغې سره به په ښهٔ شان پاکول اوکړے (یعنی د حیض وینه چه کومه لګیدلی وی هغه به وینځي او صفا به ئې کړے) بیا به په سر باندے اوبهٔ واچوے او ښهٔ په زور سره به ئې اومږي تردے پورے چه اُوبهٔ د ویښتو زیلو ته اورسی بیا به په ځان دپاسه اوبهٔ واچوے (یعنی په ټول بدن باندے) بیا به په یوه پهه (د مالوچو یا د کپړے) چه مشک پرے لګیدلی وی په هغې سره پاکي اوکړې اسماء اووے څنګه پاکي به کوم؟ رسول الله ﷺ اوفرمایل. سبحان الله! پاکي به کوے حضرت عائشےؓ ورته په پټه اووے. چه د وینے په ځائے باندے به ئې

[1] دا حکم د نظافت او طهارت او پاکیزګۍ دپاره دے. نهٔ په طور د وجوب او د نفاس نه ورستو هم دغه شان مستحب دی بعضو وئیلی دی چه د مُشکو په استعمال سره نطفه زر اودریږی هر کله چه څهٔ مشک نهٔ ملاویږی نو نوره څهٔ خوشبوئی د استعمال کړی او دا استعمال د غسل نه ورستو پکار دے او کهٔ چرے څهٔ خوشبوئی ملاو نهٔ شوه نو صرف په اوبو سره پاکي کول پوره دی لیکن بکرے لره فرج ته دننه اوبهٔ رسلو ضروری نهٔ دی. او ثیبه لره دومره پورے رسول واجب دی څومره قدرے چه د حاجت دپاره کینی او کښولاویږی

الْجَنَابَةِ فَقَالَ تَأْخُذُ مَاءً فَتَطَهَّرُ فَتُحْسِنُ الطُّهُورَ أَوْ تُبْلِغُ الطُّهُورَ ثُمَّ تَصُبُّ عَلَى رَأْسِهَا فَتَدْلُكُهُ حَتَّى تَبْلُغَ شُؤُونَ رَأْسِهَا ثُمَّ تُفِيضُ عَلَيْهَا الْمَاءَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ نِعْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الْأَنْصَارِ لَمْ يَكُنْ يَمْنَعُهُنَّ الْحَيَاءُ أَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِي الدِّينِ

لګوے . بیا هغے د جنابت دغسل تپوس اوکړو. هغه ورته اوفرمایل . اوبۀ به واخلې په ښه شان به طهارت اوکړے . بیا به په سر باندے اوبۀ واچوے . او دومره به ئے اومږے چه اوبۀ د ویختو ویخ ته اورسی بیا به په ټول بدن اوبۀ اوغورځوی حضرت عائشے اُووے د انصارو ښځے هم څۀ ښکلی ښځے وے هغوی به د دین د خبرے په تپوس کولو کښې شرم نۀ کوو(او دا لازم دی ولے چه شرم په ګناه ،او معصیت کښې دے او د دین د خبرے تپوس کول ثواب او اجر دے)

بَابُ الْمُسْتَحَاضَةِ وَغُسْلِهَا وَصَلَاتِهَا

باب : د مستحاضے بیان او د هغے د غسل او مانځۀ حال [1]

[1] مستحاضه هغه ښځے ته ویلے شی چه هغه په استحاضه کښې مبتلا وی او استحاضه ویلے شی هغه وینی ته چه هغه بے وخت د ښځے د شرمګاه نه جاری وی او دا وینه د یو رګ نه را اوخی چه هغے ته عادل ویلی شی. او د حیض وینه د رحم د قعر نه رااوخی. د مستحاضے سره وطی صحیح ده اګر کۀ وینه جاری وی زمونږ او د جمهورو علماؤ مذهب دغه دے او د حضرت عائشے رضی الله عنها نه د هغے ممانعت منقول دے د نخعی رحمه الله او حکم رحمه الله دغه قول دے او د ابن سیرین په نزد جماع مکروه ده. او احمد رحمه الله ویلی دی هغه وخت به جماع کوی کله چه خاوند ته په زنا کښې د اخته کیدو یره وی او صحیح د جمهورو قول دے او دلیل د هغې هغه دے کوم چه عکرمه رضی الله عنه روایت کړے دے د حمنه بن جحش نه چه هغه مستحاضه وه او د هغے خاوند به د هغے سره جماع کوله روایت کړے دے دے لره ابوداؤد او بیهقی او په مونځ او روژے، او اعتکاف. او قراءت ، او مَسِ مصحف . او سجده تلاوت . او په سجده د شکر کښې او په ټولو عباداتو کښې په شان د پاکے ښځے ده په اتفاق د علماؤ سره لیکن کله چه د مانځۀ اراده کوی نو خپل شرمګاه لره به وینځی. او په فرج کښې به یوه کپړه یا مالوچ ګدی او کۀ چرے وینه ډیره بهیږی او دا کپړه پوره نۀ وی نو د پاسه نه به لنګ اووهی بیا به اودس اوکړی په هغه وخت حصاریږی به نۀ یا به تیمم اوکړی کچرے اوبۀ نۀ ملاویږی یا عذر وی او د فرض مونځ لوستلو نه پس چه خومره نفل کول غواړی کولے شی لیکن زمونږ په نزد به په یو اودس سره یو فرض کوی کۀ قضا وی کۀ ادا وی او د ابوحنیفه رحمه الله په نزد به هر مانځۀ له د هر وخت نوے نوے اودس کوی او د هغه وخت د ننه چه خومره مونځونه وی کۀ فرض وی یا نفل کولو شی او د ربیعه رحمه الله او مالک رحمه الله په نزد د استحاضے په وینه سره اودس نۀ ماتیږی خو د کومے پورے حدثۀ بل قسم یے اودسی نۀ وی نو خومره فرض او نفلو نه چه غواړی کولے شی او د وخت د راتلو نه وړاندے د مستحاضے اودس د هغه مانځۀ دپاره زمونږ په نزد صحیح نۀ دے. او د ابوحنیفه رحمه الله په نزد صحیح دی او په مستحاضه باندے غسل واجب نۀ دے د څۀ مانځۀ په وخت او د جمهورو علماؤ دغه قول دے. او د ابن زبیر رضی الله عنه او عطاء ابن ابی رباح نه منقول دے چه هغه به د هر مانځۀ دپاره غسل کوی او د حضرت عائشے رضی الله عنها نه مروی دے. چه هره ورځ به یو خل غسل کوی. او د مسیب او حسن رضی الله عنهما نه منقول دے. چه د هرے ورځے د ماسپخین په وخت به غسل کوی. او د جمهورو مذهب صحیح دے. چه هغه به جرنه غسل نۀ کوی مګر کله چه د حیض نه پاکه شی او په تکرار د غسل کښې چه کوم حدیثونه راغلی دی هغه ضعیف دی او مستحاضه په دوه قسمه ده یو خو چه هغه وینه اوګوری چه هغه حیض نۀ دے لکه د یوے شپے او یوے ورځے نه کم دویم کوم څۀ چه

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلَا أَطْهُرُ أَفَأَدَعُ الصَّلَاةَ فَقَالَ لَا إِنَّمَا ذٰلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِالْحَيْضَةِ فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ وَصَلِّي

د اُمُّ المؤمنین عائشهؓ نه روایت دے. فاطمه بن ابی حُبَیش رسول اللهﷺ له راغله او عرض ئے اوکړو. یا رسول الله! ماته استحاض شوے دے. زهٔ نهٔ پاکیږم. ولے مونځ پریږدم؟ هغهٔ اوفرمائیل نه دا د وینے یو رګ دے حیض نهٔ دے هر کله چه د حیض ورځے راشی نو مونځ پریږده. بیا چه د حیض ورځے تیرے شی نو وینه اووینځه او مونځ شروع کړه[1].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ اسْتَفْتَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ بِنْتُ جَحْشٍ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنِّي أُسْتَحَاضُ فَقَالَ إِنَّمَا ذٰلِكِ عِرْقٌ فَاغْتَسِلِي ثُمَّ صَلِّي فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ قَالَ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ لَمْ يَذْكُرِ ابْنُ شِهَابٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ أَنْ تَغْتَسِلَ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَلٰكِنَّهُ شَيْءٌ فَعَلَتْهُ هِيَ وَقَالَ ابْنُ رُمْحٍ فِي رِوَايَتِهِ ابْنَةُ جَحْشٍ وَلَمْ يَذْكُرْ أُمَّ حَبِيبَةَ

د اُمُّ المؤمنین عائشهؓ نه روایت دے.چه اُمِّ حبیبه بنت جحشؓ رسول اللهﷺ ته اووے.ماته استحاض دے. هغهٔ اوفرمائیل دا وینه د یو رګ ده. تهٔ غسل کوه او مونځ کوه.بیا به هغے د هر مانځهٔ دپاره غسل کولو. لیث وائی ابن شهاب دا نهٔ دی بیان کړی چه رسول اللهﷺ اُمِّ حبیبه بنت جحشؓ ته حکم اوکړو د هر مانځهٔ دپاره د غسل کولو. بلکه اُمِّ حبیبه به په خپله داسے کول. د ابن رمح په روایت کښ د اُمِّ حبیبه نوم نشته دے. بلکه صرف د جحش د لور ذکر دے.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ

د اُمُّ المؤمنین عائشهؓ نه روایت دے. چه اُمِّ حبیبه بنت جحشؓ چه د

حیض دے څهٔ نهٔ دے. لکه برابر وینه لیدل کوی. یا د حیض د مودے نه زیاته وینه اووینی. ددے دویم قسم درے صورتونه دی. اول دا چه هغه ښځهٔ معتاده نهٔ وی. یعنی د شروع نه هغے ته دغه راغلے وی. نو د هغے حیض به د یوے شپے او یوے ورځے پورے شماریږی. زمونږ په نزد او د ابو حنیفه رحمه الله په نزد درے شپے او درے ورځے دی او باقی استحاضه ده. دویمه دا چه معتاده وی. نو څومره ورځے چه د هغے د حیض عادت وی. دومره به ئے حیض شمارلے شی. او باقی به استحاضه وی. دریمه دا چه ممیزه وی. چه کله وینه ډیره اووینی او کله لږه. نو هر کله چه توره وینه اووینی هغه حیض دے. په شرط ددے چه د یوے شپے ورځے نه کم نهٔ وی او د پنځلسو ورځو نه زیاته نهٔ وی. او سره وینه د پنځلسو ورځونه کمه نهٔ وی. (نووی رحمه الله مع زیاده واختصار)

[1] نووی رحمه الله وئیلی دی چه ددے حدیث نه وتلی دی چه مستحاضه به مونځ کوی مګر په هغه زمانه کښ چه د حیض وینه نهٔ وی او په دے باندے اتفاق دے. او دا هم چه د حاجت په وخت د مسئلے تپوس اوشی او ښځه په خپله د مسئلے تپوس کولے شی. او د هغے آواز د حاجت په وخت بل څوک اوریدے. انتهٰی

أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ خَتَنَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَحْتَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ اسْتُحِيضَتْ سَبْعَ سِنِينَ فَاسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذٰلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذِهِ لَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ وَلٰكِنَّ هٰذَا عِرْقٌ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ فِي مِرْكَنٍ فِي حُجْرَةِ أُخْتِهَا زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ حَتّٰى تَعْلُوَ حُمْرَةُ الدَّمِ الْمَاءَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَحَدَّثْتُ بِذٰلِكَ أَبَا بَكْرِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَقَالَ يَرْحَمُ اللهُ هِنْدًا لَوْ سَمِعَتْ بِهٰذِهِ الْفُتْيَا وَاللهِ إِنْ كَانَتْ لَتَبْكِي لِأَنَّهَا كَانَتْ لَا تُصَلِّي

رسول الله ﷺ د ښځې خور وه. او بي بي د عبد الرّحمٰن بن عوف وه. د اوو کالو پورې مستحاضه وه. هغې د رسول الله ﷺ نه د مسئلې تپوس اوکړو. هغهٔ اوفرمايل دا حيض نهٔ دے بلکه د يو رګ وينه ده تهٔ غسل کوه او مونځ کوه. حضرت عائشې ؓ ويلي دي. هغې د يو غټ خانک نه غسل کولو د خپلې خور زينب بنت جحش ؓ په کوټه کښې نو د وينې سُور والے په اوبو کښې راتلو (دومره وينه به ترے نه تله) ابن شهاب ويلي دي ما دا حديث ابوبکر بن عبد الرّحمٰن ته بيان کړو. هغوی اووے خدائے پاک دِ رحم اوکړی په هنده باندے کاش! هغې دا فتویٰ اوريدلے وے. قسم په خدائے چه هغې به ژړا کوله په مونځ نهٔ کولو سره (يعني هغې ته هم استحاض وو او دا مسئله ورته معلومه نهٔ وه. نو مونځ به ئې نهٔ کولو او د مونځ په پاتې کيدو باندے به ئې ژړا کوله

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّمِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَأَيْتُ مِرْكَنَهَا مَلْآنَ دَمًا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْكُثِي قَدْرَ مَا كَانَتْ تَحْبِسُكِ حَيْضَتُكِ ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي

د اُمّ المؤمنين عائشه ؓ نه روايت دے. چه اُمّ حبيبه تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه د استحاضه وينې. حضرت عائشه ؓ وائي. ما د هغې د لامبلو لوښے د وينې نه ډک اوليدو. هغهٔ اوفرمائيل دومره ورځې د صبر کوی څومره ورځې چه به ئې حيض راتلو (د بيمارئ نه مخکښې د عادت په ورځو کښې) بيا دِ غسل کوی او مونځ دِ کوی.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ جَحْشٍ الَّتِي كَانَتْ تَحْتَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ شَكَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّمَ فَقَالَ لَهَا امْكُثِي قَدْرَ مَا كَانَتْ تَحْبِسُكِ حَيْضَتُكِ ثُمَّ اغْتَسِلِي فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ

د اُمّ المؤمنين عائشه ؓ نه روايت دے. چه اُمّ حبيبه بنت جحش چه د عبد الرّحمٰن بن عوف ؓ په نکاح کښې وه. د رسول الله ﷺ خواله راغله او شکايت ئې اوکړو د وينې د بهيدو. هغهٔ ورته اوفرمائيل. دومره ورځې حصار يره څومره ورځې چه به د حيض راتلو (دد ے ناجوړتيا نه وړاندے) بيا غسل کوه. نو هغې به د هر مانځهٔ دپاره غسل کولو.

بَابُ وُجُوبِ قَضَاءِ الصَّوْمِ عَلَى الْحَائِضِ دُونَ الصَّلَاةِ

باب : په حائضه ښځه باندے د مانځۀ قضا واجب نۀ ده . او د روژے قضا واجب ده

عَنْ مُعَاذَةَ أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتْ عَائِشَةَ فَقَالَتْ أَتَقْضِي إِحْدَانَا الصَّلَاةَ أَيَّامَ مَحِيضِهَا فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ قَدْ كَانَتْ إِحْدَانَا تَحِيضُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لَا تُؤْمَرُ بِقَضَاءٍ

د معاذه رضی الله عنها نه روایت دے چه یوے ښځے د حضرت عائشے نه تپوس اوکړو. ولے ښځه به قضا راوړی د حیض د ورځو لره؟ هغوی اووے ولے تۀ حروری ئے؟ په مونږ کښ چه به چا ته حیض راغے د رسول الله ﷺ په زمانه کښ هغے ته به د مانځۀ د قضا راوړو حکم نۀ وو[1]

عَنْ مُعَاذَةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ أَتَقْضِي الْحَائِضُ الصَّلَاةَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ قَدْ كُنَّ نِسَاءُ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَحِضْنَ أَفَأَمَرَهُنَّ أَنْ يَجْزِينَ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ تَعْنِي يَقْضِينَ .

معاذهؓ تپوس اوکړو د حضرت عائشےؓ نه ولے حائضه به د مونځ قضا کوی. هغوی اووے . ولے تۀ حروري ئے؟ د رسول الله ﷺ بیبیانے چه به حائضه شولے . بیا ولے هغۀ به هغوی ته د مانځۀ د قضاء حکم کوو؟

عَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ عَائِشَةَ فَقُلْتُ مَا بَالُ الْحَائِضِ تَقْضِي الصَّوْمَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ فَقَالَتْ أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ قُلْتُ لَسْتُ بِحَرُورِيَّةٍ وَلٰكِنِّي أَسْأَلُ قَالَتْ كَانَ يُصِيبُنَا ذٰلِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ

د معاذهؓ نه روایت دے . ما د حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو څۀ وجه ده چه حائضه د روژو قضا کوی ؟او د ماځۀ قضاء نۀ کوی؟ هغوی اووے تۀ حروری خو نۀ ئے ؟ ما اووے نه زۀ خو تپوس کوم. هغوی اووے . مونږ ښځو ته چه به کله حیض راغے . نو مونږ ته به حُکم اوشو د روژو د قضاء راګرځولو . او حکم به نۀ کیدو د مانځۀ د قضاء راګرځولو[2].

---

[1] حروری نسبت دے د حرورا په طرف او حرورا د یو کلی نوم دے په کوفه کښ په دوه میله باندے. د هر څۀ نه اول خوارج دغلته راغونډ شوی وو هغه خوارج د ټولو اهل اسلام خلاف دا خبره اختیار کړے ده. چه حائضے لره د مانځۀ قضا راوړل پکار دی د هغوی نه سوا د ټولو اهل اسلام اتفاق دے چه په حائضے باندے د مانځۀ قضا راوړل واجب نۀ دی خو د روژو قضاء واجب ده

[2] دا عنایت دے د پروردګار چه هغه د مانځۀ قضا معاف کړے ده ګنی نو لوئے بوجه به وو خکه چه مونځ په هره ورځ کښ پنځۀ خله فرض دے په ټول کال کښ په سوونو مونځونو کول پریوتل. او رمضان خو په ټول کال کښ یو وار راځی. د څلورو پنځو روژو قضاء څۀ ګرانه نۀ ده

بَابُ تَسَتُّرِ الْمُغْتَسِلِ بِثَوْبٍ وَنَحْوِهِ

عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ تَقُولُ ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ

عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ أَنَّهُ لَمَّا كَانَ عَامُ الْفَتْحِ أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِأَعْلَى مَكَّةَ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى غُسْلِهِ فَسَتَرَتْ عَلَيْهِ فَاطِمَةُ ثُمَّ أَخَذَ ثَوْبَهُ فَالْتَحَفَ بِهِ ثُمَّ صَلَّى ثَمَانَ رَكَعَاتٍ سُبْحَةَ الضُّحَى

عَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاءً وَسَتَرْتُهُ فَاغْتَسَلَ

باب: غُسل کونکے به د کپړے پرده کوی

د اُمّ هانیؓ بنت ابی طالب نه روایت دے چه زهٔ د رسول اللهﷺ خواله لاړم. په کوم کال چه مکه مکرمه فتح شوه. حضرتﷺ غُسل کولو. او فاطمےؓ په هغهٔ باندے د کپړے یوه پرده کړے وه.

د اُمّ هانیؓ بنت ابی طالب نه روایت دے په کوم کال چه مکه فتح شوه نو هغه د رسول اللهﷺ خواله راغله. هغهٔ د مکے په اوچت جانب کښ وو. نو پاسیدو رسول اللهﷺ د غُسل کولو دپاره. نو حضرت فاطمےؓ د یوے کپړے پرده په هغهٔ باندے اوکړه. بیا هغهٔ خپلے کپړے واغوستلے او بیا اتهٔ رکعتهٔ د څاښت اوکړل[1]

د اُمُّ المؤمنین میمونهؓ نه روایت دے. هغوی وائی چه ما نبی کریمﷺ دپاره اوبهٔ کیښودے. او هغهٔ ته مے پرده اوکړه. نو هغهٔ غُسل اوفرمایلو.

بَابُ تَحْرِيمِ النَّظَرِ إِلَى الْعَوْرَاتِ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ

باب: د بل عورة ته کتل حرام دی

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. سړے به د بل سړی ستر ته (یعنی عورة ته د کوم خائے چه پټول فرض دی) نهٔ ګوری. او نهٔ به ښځه د بلے ښځے ستر یعنی عورة ته ګوری او سړے به د بل سړی سره په یوه کپړه کښ نهٔ اوده کیږی. او نهٔ به ښځه د بلے ښځے سره په یو څادر کښ څملی[2]

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی دے حدیث نه دا وتلی دی چه څاښت اتهٔ رکعتونه دی. او دا سنت دی.

[2] یعنی په دے شان سره چه دواړه لغړ وی. او د دواړو په بدن کښ څهٔ کپړه حائله نهٔ وی یا څهٔ څیز حائل نهٔ وی. نووی رحمه الله ویلی دی. دغه شان دا حکم دے چه سړی له د ښځے او ښځے لره د سړی ستر ته کتل حرام دی په اجماع سره ددے نه خاوند او د وینځے مالک مستثنی دے. خاوند لره د خپلے بی بی او بی بی لره د خپل خاوند ټول ستر ته کتل صحیح دی سوا د شرمګاه نه. په دے کښ درے قوله نه دی. یو دا چه هر یو له د بل شرمګاه ته کتل بغیر د ضرورت نه مکروه دی. دغه شان د ښځے شرمګاه ته د نته کتل هم مکروه دی او د وینځے مالک کهٔ چرے دهغے سره وطی کوی. نو هغه دواړه په مثل د خاوند دی. او کهٔ چرے محرم دی لکه خور. یا ترور یا خاله یعنی د مور خور وغیره نو هغه د آزادے ښځے په مثل دی. او کهٔ چرے وینځه مجوسی ده یا مرتده یا بت پرسته یا معتده

بَاب جَوَازِ الِاغْتِسَالِ عُرْيَانًا فِي الْخَلْوَةِ

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى سَوْأَةِ بَعْضٍ وَكَانَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ فَقَالُوا وَاللهِ مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلَّا أَنَّهُ آدَرُ قَالَ فَذَهَبَ مَرَّةً يَغْتَسِلُ فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ فَفَرَّ

باب : په يواځے والی کښې لغړ لامبل صحيح دی

د همّام بن منبّه نه روايت دے. دا هغه حديثونه دی چه ابوهريرهؓ مونږ ته بيان کړل چه د محمد رسول اللهﷺ نه ئے اوريدلی وو. بيا بيان کړل هغوی څو حديثونو لره په هغے کښې يو دا هم وو. چه فرمائيلی دی رسول اللهﷺ چه د بنی اسرائيلو خلقو به لغړ لمبل د يو بل ستر ته به ئے کتل او حضرت موسیٰؑ به په خان له ځائے کښې لامبل. خلقو اووے موسیٰ زمونږ سره ځکه يو ځائے نۀ لامبی هغه اُدر (د خُصيتينو د پړسوب بيمار) دے. يو ځل موسیٰؑ لامبلو ته لاړو . او جامے ئے اوويستے. په ګټه ئے کيښودے.هغے ګټے (پخپله د خدائے په حکم) د هغۀ کپړے واخستے او تختيده. موسیٰؑ په هغے

يا مكاتبه نو هغه په مثل د غير وينځے ده. اوس سړی لره خپلو محرم ښځو ته کتل د نامه نه په پورته او د زنګونانو نه لاندے بدن ته صحيح دی. او بعضو ويلی دی دومره بدن ته کتل صحيح دی څومره چه په کاروبار کولو کښې ښکاره کيږی. اوس د سړی ستر د سړی نه او د ښځے ستر د ښځے نه د نامۀ نه لاندے د زنګونانو پورے دے. او په زنګونانو او نوم کښې درے قولونه دی. يو دا چه هغه ستر نۀ دے دغه صحيح دے. دويمه دا چه نوم او زنګونان په ستر کښې داخل دی. دريمه دا چه نوم ستر دے او زنګونان ستر نۀ دے.او د ابوحنيفه رحمه الله په نزد نوم ستر نۀ دے او زنګونان په ستر کښې داخل دی او سړی لره غير ښځے ته کتل او ښځے لره غير سړی ته کتل بالکل حرام دی خواه کۀ دغه نظر د شهوت سره وی يا بغير د شهوت نه وی. او د بعضو په نزد آزادے ښځے لره د پردِی سړی مخ ته کتل بغير د شهوت نه صحيح دی. مګر دا قول ضعيف دے. او کۀ چرے ښځه ناشنا وی نو څۀ فرق نۀ راځی. او په وينځه کښې هم او د ابوحنيفه رحمه الله په نزد غير وينځه په شان د محرم ښځے ده. دغه شان حرام دی سړی لره د ښکلی او بے ږيرے سړی مخ ته کتل خواه کۀ دغه نظر د شهوت وی يا بغير د شهوت نه وی. خواه د فتنے يره وی يا نۀ وی. صحيح او مختار مذهب دغه دے. مګر دا څومره حرمت چه د نظر پورته بيان شو. په هغه صورت کښې دے. هر کله چه څۀ حاجت او ضرورت نۀ وی ګنی د حاجت او ضرورت په وخت نظر کول صحيح دی. لکه د خرڅولو اخستلو او د علاج د ګواهئ په وخت باندے په شهوت سره نظر کول چه په هر يو حرام دے. زمونږ ملګرو ويلی دی چه په شهوت سره نظر کول خو په هر سړی باندے حرام دی سوا د خپلے بی بی يا د وينځے نه تر دے پورے کۀ چرے څوک خپلے لور يا مور ته هم په شهوت سره اوګوری نو حرام دی.او دا چه ئے کوم سړی له د سړی سره او ښځے لره د ښځے سره په يوه کپړه کښې د سملاستو ممانعت کړے دے. دا ممانعت تحريمی دے. دد ے نه دا هم وتلی دی چه د بل په ستر باندے لاس لګول هم صحيح نۀ دی. او خلق په حمام کښې اکثر په داسے خرابو کښې پريوځی حالانکه د دغه خبرو نه بچ کيدل پکار دی. او څوک چه داسے کوی. هغه لره منع کول پکار دی. اګر کۀ د منلو اُميد نۀ وی. او په يواځيوالی کښې بنده برېنډه کيدے شی. خو بے بغير د ضرورته مکروه بلکه حرام دی. (نووی رحمه الله)

الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ قَالَ فَجَمَحَ مُوسَى بِإِثْرِهِ يَقُولُ ثَوْبِي حَجَرُ ثَوْبِي حَجَرُ حَتَّى نَظَرَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى سَوْأَةِ مُوسَى قَالُوا وَاللَّهِ مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ فَقَامَ الْحَجَرُ حَتَّى نُظِرَ إِلَيْهِ قَالَ فَأَخَذَ ثَوْبَهُ فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاللَّهِ إِنَّهُ بِالْحَجَرِ نَدَبٌ سِتَّةٌ أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبُ مُوسَى بِالْحَجَرِ

پسے منډے وهلے اوویل بهٔ ئے اے ګټے خما کپړے راکړه. اے ګټے خما کپړے راکړه. تردے پورے چه بنی اسرائیلو د هغهٔ ستر اولیدو اووئے ویل په خدائے قسم چه په دهٔ کښې څو څهٔ بیماری نشته دے. په هغه وخت هغه ګټه اودریده او دهٔ ته ښهٔ کتل اوکړے شو. بیا هغوی خپلے کپړے اوچتے کړے او د (غصے نه ئے) ګټه لره وهل شروع کړل. ابوهریرهؓ ویلی دی قسم په خدائے په ګټه باندے د موسیٰؑ د وهلو نخښے دی د شپږو یا اوو ګذارو[1].

بَابُ الِاعْتِنَاءِ بِحِفْظِ الْعَوْرَةِ

باب : په ستر پرده کولو کښې احتیاط کول

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ لَمَّا بُنِيَتِ الْكَعْبَةُ ذَهَبَ النَّبِيُّ ﷺ وَعَبَّاسٌ يَنْقُلَانِ حِجَارَةً فَقَالَ الْعَبَّاسُ لِلنَّبِيِّ ﷺ اجْعَلْ إِزَارَكَ عَلَى عَاتِقِكَ مِنَ الْحِجَارَةِ فَفَعَلَ فَخَرَّ إِلَى الْأَرْضِ وَطَمَحَتْ عَيْنَاهُ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ إِزَارِي إِزَارِي فَشَدَّ عَلَيْهِ إِزَارَهُ قَالَ ابْنُ رَافِعٍ فِي رِوَايَتِهِ عَلَى

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے. چه هر کله کعبه جوړه کړے شوه. نو رسول الله ﷺ او حضرت عباسؓ ګټے اوچتولے. عباسؓ نبی ﷺ ته اووے. ته خپل لنګ اوچت کړه په اوګه باندے ئے واچوه د ګټو اوچتولو دپاره هغه دغه شان اوکړل هغه وخت په زمکه اوغورځیدو. او د هغهٔ سترګے په آسمان اولګیدے. بیا اودریدو اوئے فرمائیل. خما ازار خما ازار. هغوی د هغهٔ ازار اوتړو. د ابن

[1] زمونږ د زمانے بعضے احمق خلق د داسے خبرو نه انکار کوی. او د ګټے پخپله تلل د عقل نه خلاف ګڼړی. حالانکه دا د عقل نه خلاف نهٔ دی زمکه او سپوږمۍ او نمر اوستوری چه د ګټے په شان بے جان دی. شپه اور ورځ حرکت کوی بیا د یوے بیا د یوے ګټے تلل څهٔ مشکل دی. نوی رحمه الله ویلی دی مونږ بیان کړی دی. چه د ضرورت په وخت ستر کهولاوول صحیح دی په خانله والی کښې د غسل په وخت یاد متیازو کولو په وخت یا د بی بی سره د صحبت کولو په وخت. او د خلقو په مخکښې ستر ښکاره کول هیڅ کله صحیح نهٔ دی لیکن علماؤ ویلی دی چه په یواځے والی کښې هم د لامبلو په وخت لنګ اچول مستحب دی. او په بربنډه لامبل هم صحیح دی. ددے حدیث په راوړو سره هم دغه غرض دے. چه موسیٰ علیه السلام به په خلوت کښې بربنډ لامبل. او دا حدیث به دهغه خلقو په مذهب باندے دلیل وی. چه هغه وائی چه مخکښنی خلقو شریعت زمونږ دپاره هم کافی دے د عمل کولو دپاره په شرط ددے چه د هغے ممانعت نهٔ وی. او بنی اسرائیلو چا چه به د یو بل په مخکښې بربنډ لامبل. نو کیدے شی چه دا د هغوی په شریعت کښې جائز وو. یا حرام وو. لیکن هغوی هغے لره کول لکه چه زمونږ شرع والاهم ډیر حرام کارونه کوی. انتهی

رقبتك ولم يقل على عاتقك

عن جابر بن عبد الله يحدث أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان ينقل معهم الحجارة للكعبة وعليه إزاره فقال له العباس عمه يا ابن أخي لو حللت إزارك فجعلته على منكبك دون الحجارة قال فحله فجعله على منكبه فسقط مغشيا عليه قال فما رئي بعد ذلك اليوم عريانا

عن المسور بن مخرمة قال أقبلت بحجر أحمله ثقيل وعلي إزار خفيف قال فانحل إزاري ومعي الحجر لم أستطع أن أضعه حتى بلغت به إلى موضعه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ارجع إلى ثوبك فخذه ولا تمشوا عراة

باب ما يستتر به لقضاء الحاجة

عن عبد الله بن جعفر قال أردفني رسول الله ﷺ ذات يوم خلفه فأسر إلي حديثا لا أحدث به أحدا من الناس وكان أحب ما استتر به رسول الله ﷺ لحاجته هدف أو حائش نخل قال ابن أسماء في حديثه يعني حائط نخل

باب بيان أن الجماع كان في أول الإسلام لا يوجب الغسل إلا أن ينزل المني

رافع په روایت کښې د اوګې په ځائې د څټ ذکر دے[1]

د جابر بن عبد الله نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ د خلقو سره ګټے اوچتوے د کعبے د جوړولو دپاره او هغهٔ لنګ تړلے وو. عباس اووے چه د هغهٔ تره وو اے خما وراره! ته خپل لنګ اوباسه او په اوګو باندے کیږده نو غوره ده. هغهٔ لنګ اوویستو او په اوګو باندے ئے واچوو. په هغه وخت پرے بیهوشی راغله او اوغورځیدو. بیا د هغه ورځې نه بربنډ نهٔ دے لیدلے شوے.

د مسور بن مخرمه نه روایت دے چه ما یوه درنه ګټه را اخستے وه او راروان وم. او نرے لنګ مے اغوستے وو هغه کهولاؤ شو. او ما ګټه په زمکه باندے نهٔ شوه ایخودے تر دے پورے چه هغه ځائې له مے یوړله رسول الله ﷺ اوفرمایل. لاړ شه. او خپله کپړه پورته کړه. او بربنډ تلل مهٔ کوه.

باب: د متیازو کولو په وخت ستر لره پټول

د عبد الله بن جعفر نه روایت دے چه زهٔ یو ځل رسول الله ﷺ د ځان سره په خپله سورلئ باندے کینولم شاته بیانئې خما په غوږ کښې یوه خبره اوکړه هغه خبره چا ته نهٔ بیانوم. او هغهٔ ته د حاجت په وخت د موړے (ډیکې) یا د کهجورے د اونو پرده غوره وه (دد دے دپاره چه ستر یعنی عورت لره څوک اونهٔ وینی)

باب: په اول د اسلام کښې په جماع سره غسل نهٔ واجبیدو د کومے پورے چه به منی نهٔ وه وتلے لیکن

[1] دے حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د وړوکوالی نه محفوظ وو د بدو عادتونو او خصلتونو نه کوم چه په جاهلیت کښې جاری وو او د پیغمبرانو د عصمت بیان شوے دے په کتاب الایمان کښې. او په یو روایت کښې دی چه فرښته د آسمان نه راکوزه شوه او هغه فرښتے هغه لنګ اوتړلو (نووی)

وَبَيَانِ نَسْخِهِ وَاَنَّ الْغُسْلَ يَجِبُ بِالْجِمَاعِ

هغه حکم منسوخ شو. او په جماع سره غسل واجبيږي

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ إِلَى قُبَاءَ حَتَّى إِذَا كُنَّا فِي بَنِي سَالِمٍ وَقَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَابِ عِتْبَانَ فَصَرَخَ بِهِ فَخَرَجَ يَجُرُّ إِزَارَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْجَلْنَا الرَّجُلَ فَقَالَ عِتْبَانُ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يُعْجَلُ عَنِ امْرَأَتِهِ وَلَمْ يُمْنِ مَاذَا عَلَيْهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ

د ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دے چه زۀ د ګُل په ورخ د رسول الله ﷺ سره اووتم د مسجد قُبَا په طرف څۀ وخت چه مونږ د بني سالم محلے ته اورسيدو. نو رسول الله ﷺ د عتبان بن مالک رضي الله عنه په دروازه کښې اودريدو او آواز ئے وکړو. هغه د خپل لنګ د راخکلو سره بهر راووتو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل. مونږ دۀ لره په جلتئ کښې اوغورځوو. عتبان رضي الله عنه اووے. يا رسول الله ﷺ! کۀ يو سړے په جلتئ د خپلے ښځے نه جُدا شي او مني نۀ وي اوتي د هغے څۀ حکم دے (يعني غسل به کوي يا نۀ؟) هغۀ اوفرمائيل اوبۀ (يعني لامبل) په اوبو (يعني مني وتلو سره) واجبيږي[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمايلي دي اوبۀ د اوبو نه واجبيږي.

عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ بْنِ الشِّخِّيرِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَنْسَخُ حَدِيثُهُ بَعْضُهُ بَعْضًا كَمَا يَنْسَخُ الْقُرْآنُ بَعْضُهُ بَعْضًا

ابوالعلاء بن شخير ويلي د رسول الله ﷺ وو حديث لره دويم حديث منسوخ کوي. لکه چه د قرآن يو آيت په دويم آيت سره منسوخ کيږي[2].

---

[1] نووي رحمه الله ويلي دي اوس د اُمت اجماع ده په دے باندے چه په جماع سره غسل واجبيږي. اګر کۀ انزال نۀ وي شوے دغه شان په انزال سره غسل واجبيږي. او د صحابو د يو جماعت دا قول وو چه غسل بغير د انزال نه نۀ واجبيږي. بيا بعضو رجوع اوکړه د هغه قول نه. او اجماع اوشوه په جماع سره د غسل په واجبيدو باندے اوس دا حديث إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ منسوخ دے. يعني په اوائل د اسلام کښې داسے حکم وو چه کۀ چرے جماع کوي او انزال نۀ وي شوے. نو غسل نۀ واجبيږي. ليکن ورسته غسل واجب کړے شو. او د حضرت ابن عباس په نز دا حديث منسوخ نۀ دے. بلکه مراد ددے نه د احتلام حالت دے. يعني کۀ چرے څوک په خوب کښې جماع اوکړي ليکن لوند والے اُونۀ ويني نو په هغۀ باندے غسل واجب نۀ دے.

[2] نووي رحمه الله ويلي دي. د امام مسلم رحمه الله غرض ددے حديث د راوړلو نه دا دے چه د إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ حديث منسوخ دے. په نورو حديث سره. او د حديث نسخ په حديث سره جائز دے. او د هغے څلور صورتونه دي. يو د حديث متواتر نسخ په حديث متواتر سره. دووم د خبر واحد نسخ په خبرِ واحد سره. دريم د خبرِ واحد نسخ په متواتر سره. دا درے صورتونه خو بالاتّفاق جائز دي. څلورم د خبر واحد نسخ په خبر واحد سره. په دے کښې اختلاف دے. د جمهورو په نز جائز نۀ دے. او د بعضے ظاهريو په نز جائز دے

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَخَرَجَ وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ فَقَالَ لَعَلَّنَا أَعْجَلْنَاكَ قَالَ نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِذَا أُعْجِلْتَ أَوْ أَقْحَطْتَ فَلَا غُسْلَ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ الْوُضُوءُ و قَالَ ابْنُ بَشَّارٍ إِذَا أُعْجِلْتَ أَوْ أُقْحِطْتَ

د ابو سعيد خدرىؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ د يو انصارى په مكان باندے تيريدو هغه ئے رااوغوښتو. هغه راووتو. او د هغهٔ د سر نه اوبهٔ څڅيدلے. هغهٔ اوفرمايل. زمونږ په وجه سره تا جلتى اوكړى. هغهٔ اووے. آو. يا رسول الله ﷺ! هغهٔ اوفرمايل كله چه تهٔ جلتى اوكړے (بغير د انزال نه پاسے اودريږے) يا تهٔ امساک اوكړے او منى او نهٔ وځى نو په تا باندے غُسل واجب نهٔ دے. صرف اودس به كوے.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ يُصِيبُ مِنَ الْمَرْأَةِ ثُمَّ يُكْسِلُ فَقَالَ يَغْسِلُ مَا أَصَابَهُ مِنَ الْمَرْأَةِ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي

د ابى بن كعبؓ نه روايت دے. چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو كهٔ چرے يو سړے د خپلے ښځے سره جماع كوى بيا د انزال نه مخكښې پاڅى اودريږى. هغهٔ اوفرمائيل. وينځى به هغے لره كوم چه لګيدلے وى د ښځے سره (يعنى د ذكر رطوبت وغيره لره كوم چه د فرج نه پرے لګيدلى وى) بيا به اودس اوكړى او مونځ به اوكړى

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي الرَّجُلِ يَأْتِي أَهْلَهُ ثُمَّ لَا يُنْزِلُ قَالَ يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ

د اُبىِّ بن كعبؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمائيلى دى كهٔ چرے يو سړے د خپلے بى بى سره جماع اوكړى او د هغهٔ انزال اونشى. نو هغه به خپل ذكر وينځى او اودس به اوكړى.

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَأَلَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ قَالَ قُلْتُ أَرَأَيْتَ إِذَا جَامَعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَلَمْ يُمْنِ قَالَ عُثْمَانُ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ وَيَغْسِلُ ذَكَرَهُ قَالَ عُثْمَانُ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ

زيد بن خالد جُهنىؓ د حضرت عثمان بن عفانؓ نه تپوس اوكړو چه يو سړے د خپلے بى بى سره صحبت اوكړى او منى اونهٔ اوځى. حضرت عثمانؓ اووے. چه هغه دِ اودس اوكړى. لكه چه د مانځهٔ دپاره اودس كوى او ذكر لره به وينځى. حضرت عثمانؓ اووے. دا ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى.

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّهُ سَمِعَ ذَلِكَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابو ايوبؓ نه روايت دے چه هغه دا خبره د رسول الله ﷺ نه اوريدلے ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمايلى دى هر كله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا جَلَسَ بَيْنَ شُعَبِهَا الأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا فَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْغُسْلُ وَفِي حَدِيثِ مَطَرٍ وَإِنْ لَمْ يُنْزِلْ قَالَ زُهَيْرٌ مِنْ بَيْنِهِمْ بَيْنَ أَشْعُبِهَا الأَرْبَعِ

چه سړے د ښځې په څلورو ګوټونو کښې کینی (د څلورو ګوټونو نه لاس او ښپې مراد دی یا دواړه خپې او دواړه ورنونه یا د شرمګاه څلور واړه ګوټونه) بیا اولګی د هغې سره (یعنی دُخول اوکړی) نو غسل واجب شو په سړی باندے او د مطر په روایت کښې دومره زیات دے اګرچه انزال نهٔ وی[1].

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ اخْتَلَفَ فِي ذَلِكَ رَهْطٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ فَقَالَ الأَنْصَارِيُّونَ لاَ يَجِبُ الْغُسْلُ إِلاَّ مِنَ الدَّفْقِ أَوْ مِنَ الْمَاءِ وَقَالَ الْمُهَاجِرُونَ بَلْ إِذَا خَالَطَ فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ قَالَ فَقَالَ أَبُو مُوسَى فَأَنَا أَشْفِيكُمْ مِنْ ذَلِكَ فَقُمْتُ فَاسْتَأْذَنْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَأَذِنَ لِي فَقُلْتُ لَهَا يَا أُمَّاهْ أَوْ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَكِ عَنْ شَيْءٍ وَإِنِّي أَسْتَحْيِيكِ فَقَالَتْ لاَ تَسْتَحْيِي أَنْ تَسْأَلَنِي عَمَّا كُنْتَ سَائِلاً عَنْهُ

د ابو موسیٰؓ نه روایت دے. چه اختلاف کړے دے په دے مسئله کښې د مهاجرینو او انصارو یو جماعت انصارو اووے. چه غسل هله واجبیږی چه منی په توپ سره اوځی. او انزال اوشی او مهاجرینو ویلی دی هر کله چه سړے د ښځې سره صحبت اوکړی. نو غسل واجب دے. ابوموسیٰ وائی اودریږئ زهٔ ستاسو تسلی کوم. زهٔ پاسیدم او د حضرت عائشےؓ کورته لاړم. او د هغې نه م اجازت اوغوښتو. هغوی اجازت راکړو. ما اووے. اے مورے یا د مسلمانانو مور! زهٔ ستا نه څهٔ تپوس کول غواړم. لیکن ماله شرم راځی. حضرت عائشےؓ اووے مهٔ شرمیږه تهٔ د هغې خبرے په تپوس کولو کښې کوم چه تهٔ د خپلے سکه مور نه تپوس کوے چه د هغې د ګیډے نه تهٔ پیدا شوے یې. زهٔ

[1] نووی رحمه الله ویلی دی. مطلب د حدیث داد ے چه د غسل وجوب د منئ په وتلو باندے نهٔ دے. بلکه هر کله چه حشفه (د ذکر سر) فرج ته دننه لاړ شی. نو په سړی او ښځه دواړو غسل واجب شو. او په دے کښې تر نن ورځې بالکل اختلاف نشته دے. مخکښې البته د څو صحابو په دے کښې اختلاف وو. لیکن ورستو اجماع اوشوله. زمونږ ملګری وائی چه کهٔ چرے حشفه د ښځې په دُبر کښې یا د سړی په دُبر کښې پټه شی. یا د څهٔ ځناور په فرج کښې بیا هم غسل واجبیږی. اګر کهٔ هغه ښځه یا سړے یا ځناور مړ وی یا وړوکے وی. په هیره سره یا قصداً په زبردستئ سره وی یا په اختیار سره وی. خواه ذکر ته انتشار وی یا نهٔ وی غسل واجبیږی. خواه کهٔ سنت (ختنه) شوی وی یا نهٔ وی. په دے ټولو صورتونو کښې په فاعل او مفعول دواړو باندے غسل واجب دے. مګر کله چه څوک د دوی نه نابالغه وی. نو په هغهٔ باندے واجب نهٔ دے لیکن هغه جنب شو. او کهٔ چرے هغه تمیزدار وی نو د هغهٔ په ولی باندے لازم دی چه حکم اوکړی هغهٔ ته د غسل د کولو لکه چه حکم کوی د اودس د کولو. کهٔ چرے هغه بغیر د غسل نه مونځ اوکړی نو د هغهٔ مونځ به صحیح نهٔ وی. او د دخول دپاره صرف د حشفے پټیدل کافی دی. د ټول ذکر پټیدل ضروری نهٔ وی. او څوک چه د ذکر نه کپړه وغیره چاپیره کړی او د ته نے کړی نو په دے کښې درے قوله دی. صحیح داد ے چه غسل واجب دے په دواړو. انتهٰی مختصراً

أُمُّكَ الَّتِي وَلَدَتْكَ فَإِنَّمَا أَنَا أُمُّكَ قُلْتُ فَمَا يُوجِبُ الْغُسْلَ قَالَتْ عَلَى الْخَبِيرِ سَقَطْتَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ وَمَسَّ الْخِتَانُ الْخِتَانَ فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ

خو هم ستا مور یم ﴿ولې چه د حضرتؓ بیبیانې د مومنانو میاندې دي﴾ ما اووی غسل د څهٔ نه واجبیږی هغوی اووے تا د ښهٔ خبردار نه تپوس اوکړو. رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه هر کله سړے د ښځې په څلورو ګوټونو کښې کینښنی او ختنه د ختنې سره میلاو شی ﴿یعنی ذکر په فرج کښې داخل شی﴾ نو غسل واجب شو[1]

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ إِنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ يُجَامِعُ أَهْلَهُ ثُمَّ يُكْسِلُ هَلْ عَلَيْهِمَا الْغُسْلُ وَعَائِشَةُ جَالِسَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنِّي لَأَفْعَلُ ذَلِكَ أَنَا وَهَذِهِ ثُمَّ نَغْتَسِلُ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشېؓ نه روایت دے چه یو سړی د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو چه کهٔ چرے یو سړے د خپلې ښځې سره جماع کوی. بیا د انزال نه وړاندے ذکر لرے را اوباسی نو څهٔ په دواړو باندے غسل واجب دے؟ رسول اللهﷺ اوفرمائیل زهٔ او دا ﴿حضرت عائشېؓ ته ئې اووے﴾ داسے کوؤ او بیا غسل کوؤ[2]

بَاب نَسْخِ الْوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ

باب: کومه غله چه په اُور پخه شی د هغې په خوړلو سره اودس ماتیږی[3]

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْوُضُوءُ مِمَّا

د زید بن ثابتؓ نه روایت دے چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئې وو. اودس لازمیږی په هغه خوراک سره چه

[1] یعنی غسل واجبیږی خواه کهٔ انزال شوے وی یا نهٔ وی. نوویؒ وائی چه ختنه د ختنې سرهم ملاویدل ددے نه مراد دخول دے ګنی د ښځې ختنه پورته وی په جماع کښې هغه نهٔ لګی او اجماع کړیده علماؤ په دے باندے چه کهٔ چرے ذکر صرف د فرج سره اولګوی او دننه نهٔ کړی نو غسل واجب نهٔ دے.

[2] نووی وئیلی دی دغه شان خبرے سړے د خپلې بی بی سره کولے شی کهٔ چرے په هغې کښې څهٔ مصلحت وی او څهٔ تکلیف نهٔ وی هغه دا ددے دپاره اوفرمائیل چه ددغه سړی تسلی اُوشی.

[3] نوویؒ وئیلی دی امام مسلمؒ په دے باب کښې هغه حدیثونه بیان کړی دی. چه په هغې سره د اودس لازمیدل د اُور د پخکړی څیز په خوړلو سره ثابتیږی بیائې هغه حدیثونه بیان کړل چه د اُور د پخکړی په خوړلو سره اودس نهٔ لازمیدل تر نه ثابتیږی او ددے نه دا غرض دے چه اولنی حدیثونه منسوخ دی. او د جمهور سلف او صحابو رضی الله عنهم او تابعینوؒ دغه قول دے چه د اُور په پخکړی شوے غلې خوړلو سره اودس نهٔ ماتیږی. او دا مذهب دے د څلورو امامانو. او د اسحق لو یحیٰی او ابوثور او د ابوخیثمه رحمهم الله او یو جماعت په دے طرف تلے دے چه اودس ماتیږی. او دغه منقول دے د عمر بن عبد العزیز او حسن بصری او زهری او ابوقلابه او ابومجلز رحمهم الله نه. ﴿نووی رحمه الله مختصراً﴾

مَسَّتِ النَّارُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ إِبْرَاهِيمَ بْنِ قَارِظٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَجَدَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَتَوَضَّأُ عَلَى الْمَسْجِدِ فَقَالَ إِنَّمَا أَتَوَضَّأُ مِنْ أَثْوَارِ أَقِطٍ أَكَلْتُهَا لِأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ وَأَنَا أُحَدِّثُهُ هَذَا الْحَدِيثَ أَنَّهُ سَأَلَ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ عَنِ الْوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ فَقَالَ عُرْوَةُ سَمِعْتُ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ ﷺ تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ

هغه په اُور سره پوخ شوے وی. ابن شهاب" د عمر بن عبد العزیز" نه هغوی د عبد الله بن ابراهیم" نه اوریدلی دی. هغوی ابوهریرة لره په جماعت کښې په اودس کولو اولیدو. هغوی اووے ما د پنیر ټکړے خوړلی دی. خکه اودس کوم ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. چه فرمائیلی ئے وو. اودس کوئ د هغه خوراک نه پس چه هغه په اُور پوخ شوے وی. ابن شهاب" د سعید بن خالد" نه اوریدلی دی. او هغهٔ د هغوی نه دا حدیث بیان کړے وو. سعید" ویلی دی ما د عُروه بن زبیر" نه تپوس اوکړو د اودس په اُور د پوخ شوی خوراک سره هغوی اووے ما د حضرت عائشې" نه اوریدلی دی. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. اودس کوئ د هغه خوراک نه پس چه هغه په اُور سره پوخ شوے وی.

بَابُ نَسْخِ الْوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ

باب : د اُور په پوخ شوؤ څیزونو اودس نهٔ ماتیږی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ كَتِفَ شَاةٍ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ

د ابن عباس" نه روایت دے رسول الله ﷺ د بزے د مټ غوښه اوخوړه. بیائے مونځ اوکړو او اودس ئے اونهٔ کړو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ عَرْقًا أَوْ لَحْمًا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً

د ابن عباس" نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ په هډوکی باندے لګیدلے غوښه یا غوښه اوخوړه. بیائے مونځ اوکړو او اودس ئے اونهٔ کړو. یائے اُوبهٔ سره لاس اونهٔ لګولو.

عَنْ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفٍ يَأْكُلُ مِنْهَا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ

د عَمرو بن اُمیه ضمری" نه روایت دے. هغوی اولیدو رسول الله ﷺ لره چه د یو مټ غوښه ئے په چاړهٔ کټ کوله او خوړله ئے بیائے مونځ اوکړو. او اودس ئے اونهٔ کړو[1].

[1] نووی" ویلی دی دا دے حدیث نه معلومیږی. چه غوښه په چاړهٔ کټ کول او خوړل صحیح دے کله چه ضرورت وی. مثلاً غوښه سخته وی یا لویه شان ټکړه وی. او بې ضرورته مکروه دی.

عَنْ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فَأَكَلَ مِنْهَا فَدُعِيَ إِلَى الصَّلَاةِ فَقَامَ وَطَرَحَ السِّكِّينَ وَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ

د عمرو بن أميه ضمري ؓ نه روايت دے ما رسول الله ﷺ لره اوليدو چه د بزے مټ نے په چاړهٔ کټ کولو او خوړلو په دے کښې د مانځهٔ دپاره اوغوښتلے شو هغهٔ چاړهٔ اوغورځوله او منځ نے اوکړو او اودس نے او نهٔ کړو

عَنْ عَبَّاسٍ وَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ عِنْدَهَا كَتِفًا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ

د ابن عباس ؓ او د أمُ المؤمنين ميمونه ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د هغے سره د مټ غوښه اوخوړه. بيا نے منوځ اوکړو او اودس نے اونهٔ کړو.

عَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ أَشْهَدُ لَكُنْتُ أَشْوِي لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَطْنَ الشَّاةِ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ

د ابورافع ؓ نه روايت دے. زهٔ ګواه يم ما پخپله د رسول الله ﷺ دپاره د چيلئ لرے به وريتوو (هغه به د هغے نه خوړلو) بيا به نے مونځ اوکړو او اودس به نے نهٔ کولو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ شَرِبَ لَبَنًا ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ وَقَالَ إِنَّ لَهُ دَسَمًا مِثْلَهُ

د ابن عباس ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ پئ اوڅکل بيا نے اوبهٔ اوغوښتے اوغرغره نے اوکړه. او اونے فرمايل په پئو خله غوړيږی[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ عَلَيْهِ ثِيَابَهُ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأُتِيَ بِهَدِيَّةٍ خُبْزٍ وَلَحْمٍ فَأَكَلَ ثَلَاثَ لُقَمٍ ثُمَّ صَلَّى بِالنَّاسِ وَمَا مَسَّ مَاءً

د ابن عباس ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ کپړے واغوستے او د مانځهٔ دپاره اووتو. دغه وخت يو سړی هغهٔ له تحفه راوړه د غوښے او ډوډئ هغهٔ درے نمړئ تر نه اوخوړے. او بيانے مونځ اوکړو. او په اوبو نے لاس او نهٔ وينځل.

بَابُ الْوُضُوءِ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ

باب : د اوښ د غوښے خوړلو سره د اودس کولو بيان[2]

[1] نو غرغره کول د هغے نه پس مستحب دی. دغه شان د هر خوړلو څکلو د څيز نه ددے دپاره چه په مانځهٔ کښې په خله کښې څهٔ پاتے نهٔ شی چه د هغے د ويلی کيدو حاجت پريوځی او خله صفا شی. او اختلاف کړے دے علماؤ چه د خوراک نه مخکښې او د خوراک نه پس لاس وينځل مستحب دی يا نهٔ دی. او ظاهره داده چه مستحب دی د خوراک نه مخکښې مګر هر کله چه د لاسونو د صفايئ يقين وی د خيرو ميرو او نجاست نهٔ. دغه شان د خوراک نه پس مګر هر کله چه په لاسونو باندے د خوراک څهٔ اثر نهٔ وی مثلاً خوراک خشک وی او امام مالک رحمه الله ويلی دی چه د خوراک په واسطه لاس وينځل مستحب نهٔ دی مګر هر کله چه څهٔ نجاست پرِ لګيدلے وی نو وينځل نے ضروری دی (نووی رحمه الله)

[2] نووی رحمه الله ويلی دی اکثر علماء ددے په طرف تلی دی چه د اوښ په غوښه خوړلو سره اودس نهٔ ماتيږی او د احمد بن حنبل او اسحق بن راهويه او يحيی او ابن منذر او ابن خزيمه رحمهم الله او د اهل حديثو په نزد اودس ماتيږی

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَأَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْغَنَمِ قَالَ إِنْ شِئْتَ فَتَوَضَّأْ وَإِنْ شِئْتَ فَلَا تَوَضَّأْ قَالَ أَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ قَالَ نَعَمْ فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ قَالَ أُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ قَالَ نَعَمْ قَالَ أُصَلِّي فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ قَالَ لَا

د جابر بن سَمُرَةؓ نه روایت دے چه یو سړی تپوس اوکړو د رسول اللهﷺ نه اے د بزے غوښه چه اوخورم زهٔ به اودس کوم؟ هغهٔ اوفرمایل. کهٔ کوے آو کهٔ نهٔ کوے. بیا هغهٔ تپوس اوکړو. د اوښ غوښه چه اوخورم اودس به کوم. هغهٔ اوفرمایل. اودس کوه. د اوښ په غوښه خوړلو سره. هغهٔ اوویل د بزو د تړلو په ځائے کښې مونځ کوم؟ هغهٔ اوفرمایل. آو . هغهٔ اووے د اوښانو د تړلو په ځائے کښې مونځ کوم؟ هغهٔ اوفرمایل. نه[1].

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ مَنْ تَيَقَّنَ الطَّهَارَةَ ثُمَّ شَكَّ فِي الْحَدَثِ فَلَهُ أَنْ يُصَلِّيَ بِطَهَارَتِهِ تِلْكَ

باب : چا ته چه د طهارت یقین دے بیائے په حدث کښې شک راشي نو هغه په دغه طهارت سره مونځ کولے شي

عَنْ سَعِيدٍ وَعَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ شُكِيَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَجِدُ الشَّيْءَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ لَا يَنْصَرِفُ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَزُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ فِي رِوَايَتِهِمَا هُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ زَيْدٍ

سعید او عبّادبن تمیم د عباد د تره نه روایت کړے دے چه شکایت اوکړے شو رسول اللهﷺ ته چه کله سړی ته معلومه شي په مانځهٔ کښې چه هغه ته يےاودسی راغلے یعنی گمان ئےراشي هغهٔ او فرمائیل هغه به مونځ نهٔ ماتوی د کومے پورے چه آواز ئے اوریدلے نهٔ وی یا بوئ پرلگیدلے نهٔ وی. ابوبکر او زهیر رحمهما الله په خپلو روایتونو کښې د عبّاس د تره نوم اخستے دے .یعنی عبد الله بن زید[2].

---

[1] ولے چه اوښ زبردست او شریر وي. داسے نهٔ وی چه مونځ گزارته څهٔ تکلیف اورسوی. او د بزو په ځائے ددغے یره نشته نووی رحمه الله ویلی دی او ممانعت تنزیهی دے.

[2] نووی رحمه الله ویلی دی دا حدیث یوه لویه قاعده دهٔ د اسلام په قواعدو کښې ددے نه دا وتلی دی. چه هر یو څیز چه د هغے د وجود یقین وی هغه په شک سره رفع کیدے نهٔ شی. لکه طهارت کوم چه یقینی وی د حدث په گمان سره ختمیدے نهٔ شی زمونږ او د جمهور علماؤ دغه مذهب دے. او د امام مالک رحمه الله نه په دے کښې دوه روایتونه دی. یو خو دا چه اودس لازم دے کهٔ چرے شک د مانځهٔ نه بهر وی او کهٔ د مانځهٔ دننه وی نو لازم نهٔ وے. او دویمه دا چه په دواړو صورتو کښې بیا اودس کول پکار دی. (انتهى مختصراً)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه چاته پخلپه ګیډه کښې خلش معلوم شي. پس هغهٔ ته شک شي چه د ګیډے نه څهٔ اووتل یا نه (یعنی باد خارج شو وا نهٔ شو) پس نهٔ د اوخي د جماعت نه تر هغې پورے چه اوریدلے ئې نوي آواز یا پر بوئې لګیدلے نهٔ وي (یعنی په یقین د یراودسې ئې راغلے نهٔ وي)

بَاب طَهَارَةِ جُلُودِ الْمَيْتَةِ بِالدِّبَاغِ

باب : د مړ څناور څرمن په د باغت سره پاکیږي

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تُصُدِّقَ عَلَى مَوْلَاةٍ لِمَيْمُونَةَ بِشَاةٍ فَمَاتَتْ فَمَرَّ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلَّا أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَدَبَغْتُمُوهُ فَانْتَفَعْتُمْ بِهِ فَقَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه د میمونے وینځے ته چا یوه بزه په صدقه کښې ورکړه. هغه مړه شوه. رسول اللهﷺ هغه د ته اولیده نو اوئې فرمایل ،تاسو ددے نه څرمن ولې اونهٔ ویسته. پخه ئې کړې دا پکار راضي. خلقو اووے یارسول اللهﷺ هغه خو مرداره وه. هغهٔ اوفرمائیل د مردارے خوړل حرام دي[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ شَاةً مَيْتَةً أُعْطِيَتْهَا مَوْلَاةٌ لِمَيْمُونَةَ مِنَ الصَّدَقَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَّا انْتَفَعْتُمْ بِجِلْدِهَا قَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ یوه مرداره بزه اولیده چه هغه د میمونے وینځے ته په صدقه کښې میلاؤ شوے وه هغهٔ اوفرمائیل. تاسو ددے د څرمنے نه فائده ولې اونهٔ کړه. خلقو اووے. هغه مرداره ده. حضرتﷺ اوفرمائیل. د مردارے خوراک حرام دے.

[1] نهٔ د هغے د څرمے نه فائده اخستل. نوویؒ ویلی دی. په دے باب کښې د علماؤ اوهٔ مذهبونه دی یو د شافعی رحمه الله هغه دادے چه په د باغت سره د هر مړ څناور څرمن پاکیږي د دنئے او بهر نه او په لوند او اوچ هر یو څیز سره د هغې استعمال صحیح دے سوا د د سپی او د سُورنه دویم دا چه یوه څرمن په د باغت سره نهٔ پاکیږي. د حمد رحمه الله او مالک رحمه الله نه دغه مروی دے. دریم دا چه د حلال څناور څرمن پاکیږي او د حرام څناور څرمن نهٔ پاکیږي. د اوزاعی او ابن مبارک او ابوثور او اسحق رحمهم الله دغه قول دے څلورم د ټولو مردارو څناورو څرمنے په دباغت سره پاکیږي سوا د سُور نه د ابوحنیفه رحمه الله دغه مذهب دے پنځم دا چه ټولے څرمنے پاکیږي مګر صرف د بهر نه او دلوندو څیزونو استعمال په هغې کښې صحیح نهٔ دے. د مالک رحمه الله مشهور مذهب دغه دے شپږم دا چه ټولے څرمنے پاکیږي تردے پورے چه د سپی او د سُور هم د دنئے او بهر نه . او دا قول دے د داؤد ظاهری رحمه الله او ابویوسف رحمه الله اووم دا چه د مردار څناور د څرمنے نه فائده اخستل صحیح دی. اګر کهٔ د هغے دَباغت نهٔ وی شوے. د زهری دغه قول دے. انتهی مختصراً

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِشَاةٍ مَطْرُوحَةٍ أُعْطِيَتْهَا مَوْلَاةٌ لِمَيْمُونَةَ مِنَ الصَّدَقَةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أَخَذُوا إِهَابَهَا فَدَبَغُوهُ فَانْتَفَعُوا بِهِ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه غورځیدلے شوے بزه اولیده چه د میمونے وینځے ته په صدقه کښې میلاؤ شوے وه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. دغه خلقو ددے څرمن ولې وانه خسته دَباغت به ئے ورله کړے وو او فائده به ئے تر نه اوچته کړے وه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ مَيْمُونَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ دَاجِنَةً كَانَتْ لِبَعْضِ نِسَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَاتَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَلَا أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه میمونے هغهٔ ته بیان کړے دے. چه د رسول الله ﷺ یوے بی بی په کور کښې یو څاروے ساتلے وو. هغه مړ شو . نو حضرت ﷺ اوفرمائیل . تاسو ددے څرمن ولې اونهٔ ویسته. بیا به مو پکار راویستے وے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِشَاةٍ لِمَوْلَاةٍ لِمَيْمُونَةَ فَقَالَ أَلَا انْتَفَعْتُمْ بِإِهَابِهَا

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د میمونے د وینځے بزے لره اولیده (هغه مړه پرته وه. هغهٔ د هغه ځائے نه رااووته) نو اوئے فرمایل تاسو ددے د څرمنے نه فائده ولې اوچته نکړه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ

دعبد الله ابن عباسؓ نه روایت دے . ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. هر کله چه په څرمن باندے دباغت اوشو. نو په تحقیق سره هغه پاکه شوه[1].

عَنْ أَبِي الْخَيْرِ قَالَ رَأَيْتُ عَلَى عَلِيِّ ابْنِ وَعْلَةَ السَّبَائِيِّ فَرْوًا فَمَسِسْتُهُ فَقَالَ مَا لَكَ تَمَسُّهُ قَدْ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ قُلْتُ إِنَّا نَكُونُ بِالْمَغْرِبِ وَمَعَنَا الْبَرْبَرُ وَالْمَجُوسُ نُؤْتَى بِالْكَبْشِ قَدْ ذَبَحُوهُ وَنَحْنُ لَا نَأْكُلُ ذَبَائِحَهُمْ وَيَأْتُونَا

د ابوالخیر نه روایت دے. ما علی بن وعله سبائی لره یو پوستین اغوستے اولیدو. ما د هغهٔ نه مخ واړو. هغوی اووے ولې مخ اړوے (ولې تهٔ دے ته پلیت وائے؟) ما عبد الله بن عباسؓ ته اووے. چه مونږ د مغرب په ملک کښې اوسیږو. هلته د بربر کافر او اتش پرست (یعنې اُور ته سجده کونکی) ډیر دی. هغه بزے راولی او ذبحه کوی. مونږ خو د هغوی ذبحه کړے شوے ځناور نهٔ خورو. او

[1] نووي وئیلی دی دباغت په هر یو خیز سره صحیح دے. چه د څرمنے لوند والی لره اوچ کړی او د هغې بدبوئی لرے کړی په دے شان سره چه بیا څرمن د بدبوئی لاتقه پاتے نهٔ شی. لکه د انار په پوستکو خوری وغیره وغیره دوایانو سره. او د نمر په اوچولو سره دباغت نهٔ کیږی او د حنفیانو په نز کیږی. او هر کله چه څرمن په دباغت سره پاکه شوه. نو د هغې خرخول هم جائز دی او د هغې د خوراک کښې درے قولونه دی صحیح دادے چه خوړل د هغې جائز نهٔ دی.

بِالسِّقَاءِ يَجْعَلُونَ فِيهِ الْوَدَكَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَدْ سَأَلْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ دِبَاغُهُ طَهُورُهُ

مشکونه راوړی په هغې کښې چربی اچوی. ابن عباسؓ ویلی دی مونږ د رسول اللهﷺ نه د هغې تپوس اوکړو. هغهٔ اوفرمائیل په دباغت سره پاکیږی. (یعنی په څرمن باندے چه هر کله دباغت اوشو نو هغه پاکه ده. اګر کهٔ کافر د هغې دباغت کړے وی)

عَنِ ابْنِ وَعْلَةَ السَّبَإِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ قُلْتُ إِنَّا نَكُونُ بِالْمَغْرِبِ فَيَأْتِينَا الْمَجُوسُ بِالْأَسْقِيَةِ فِيهَا الْمَاءُ وَالْوَدَكُ فَقَالَ اشْرَبْ فَقُلْتُ أَرَأْيٌ تَرَاهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ دِبَاغُهُ طَهُورُهُ

د ابن وعله سبائی نه روایت دے. ما د عبد الله بن عباسؓ نه تپوس اوکړو. مونږ د مغرب په ملک کښې اوسیږو هلته مجوسیان (اتش پرست) خلقو د اوبو مشکونه را اخستی وی راځی، په هغې کښې چربی پرته وی. هغوی اووے. اوڅکه ما ووے. دا ته په خپل رائے سره وائے؟ هغوی اووے ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. چه په دباغت سره څرمنه پاکیږی.

بَابُ التَّيَمُّمِ

باب : د تیمّم بیان[1]

[1]: تیمم ثابت دے په کتاب او اجماع اُمت سره. او هغه فقط په مخ او په دواړو لاسونو باندے مسحه کول دی. خواه کهٔ بے اودسی نه وی یا د جنابت نه. او علماؤ اختلاف کړے دے دهغې په کیفیت د اکثر علماؤ مذهب داد ے چه په تیمم کښې دوه خله وهل ضروری دی. یو خل د مخ دپاره او یو خل د دواړو لاسونو دپاره د څنګلو پورے. او دغه مروی دے د علی بن ابی طالبؓ نه او عبد اللہ بن عمرؓ او د حسن بصری او شعبی او سالم او سفیان ثوری او مالک او ابوحنیفه رحمهم الله او خاوندانو د رائے نه او د عالمانو د یو جماعت دا قول دے. چه په تیمم کښې یو خل وهل پوره دی. مسح به کړی په هغې سره مخ او په دواړو ورغوو باندے او د غه قول دے د عطاء او مکحول او اوزاعی او اسحٰق او ابن منذر رحمهم الله او اکثرو اهل حدیثو او د محققینو په نزد دغه صحیح او مختار دے. او د زهریؒ نه منقول دے چه دلاسونو مسحه د ترخونو پورے ضروری ده. او د ابن سیرین رحمه الله نه منقول دے. چه درے واره وهل پکار دی یو خل د مخ دپاره دویم خل د دولړو ورغوو دپاره او دریم دلاسونو دپاره او د حَدَث اصغر یعنی د اودس په بدله خو تیمم د ټولو په نزد باندے صحیح دے. دغه شان د حدَث اکبر نه یعنی جُنابت نه هم او په دے کښې چا خلاف نهٔ دے کړے. د حضرت عمر او عبد الله بن مسعود رضی الله عنهم نه منقول دے. چه تیمم د جنابت نه صحیح نهٔ دے. او په یو روایت کښې دی چه حضرت عمر او عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما ددے قول نه رجوع کړے ده. او د احادیثِ صحیحو نه دا امر ثابت دے. چه تیمم د جنابت نه صحیح دے. او هر کله چه جنب بنده په تیمم سره مونځ اوکړی. بیا اوبهٔ اومومی نو به په هغهٔ باندے غسل واجب دے. په اتفاق د علماؤ. او مسافر ته په سفر کښې کوم ځائے چه اُوبهٔ نهٔ وی. او د خپلے بی بی سره جماع کول صحیح دی. او تیمم به کوی مونځ به کوی. خو شرمګاه لره به په اوبو سره پاک کړی. کهٔ چرے دومره هم اُوبهٔ نهٔ وی. او صرف په تیمم سره مونځ اوکړی نو هم صحیح دے. او کهٔ چرے د بے اودسه په څهٔ اندام باندے پلیتی وی او هغه د هغې په بدله اودس کول غواړی نو صحیح نهٔ دی. او د امام احمدؒ په نزد جائز دی. او ثوری او اوزاعی او ابوثور رحمهم الله ویلی دی چه په دغه ځائے باندے د په خاوره سره مسحه اوکړی. او هر کله چه په تیمم سره مونځ اوکړی. او بیا اوبهٔ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي فَأَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْتِمَاسِهِ وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالُوا أَلَا تَرَى إِلَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِالنَّاسِ مَعَهُ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ فَقَالَ حَبَسْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسَ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ قَالَتْ فَعَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ وَقَالَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُولَ وَجَعَلَ يَطْعَنُ بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي فَلَا يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلَّا مَكَانُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د اُمُّ المؤمنين عائشے رضی الله عنها نه روايت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په سفر كښې اووتلو. هر كله چه بيداء يا ذات الجيش ته اورسيدو. (بيدا او ذات الجيش دا دواړه د خائے نومونه دی د خيبر او مدينے په مينځ كښې نو څما دغاړے هار اوشليدو. او رسول الله ﷺ د هغے د كتلو دپاره اودريدو خلق هم اودريدل. او هلته اوبۀ نۀ وے او نۀ د دغه خلقو سره اوبۀ وے. خلق د ابوبكر رضی الله عنه خواله راغلل او اونے ويل تۀ گورے نه چه عائشے رضی الله عنها څۀ څۀ اوكړل؟ رسول الله ﷺ لره نے حصار كړے دے. او نورو خلقو لره هم چه هلته اُوبۀ نشته او نۀ د هغوی سره اُوبۀ شته.ددے په اوريدو سره ابوبكر رضی الله عنه راغے. او رسول الله ﷺ خپل سر څما په پتون ايخے اودۀ شوے وو. هغوی اووے تا حصار كړے دے رسول الله ﷺ لره او خلقو لره نۀ دلته اوبۀ شته او نۀ د خلقو سره اوبۀ شته. او هغوی غصه اوكړه. او څۀ چه الله غوښتل هغه نے اووے. او څما په تشو كښې نے سكوندل راكول (يعنی زۀ نے په تشو كښې پته پته سكوندلم. مترجم).زۀ ضرور خوزيدم مگر د حضرت ﷺ سر څما په پتون پروت وو. د هغے وجے نه خوزيدے نۀ شوم بيا هغه اودۀ شو تردے پورے چه سحر شو. او اوبۀ بالكل نۀ وے. بيا الله تعالى د تيمم دا آيت نازل كړو. اُسيد بن حُضَير رضی الله عنه ويلی دی او هغه د نگهبانان نه وو. (هغه عقبه لره د شپے د انصارو په دولسو سرو باندے نقيب مقرر كړے وو يعنی د خپل قوم نگهبان ددے دپاره چه هغوی ته د اسلام خبرے ايزده كړی. او د دين احكام

ميلاؤ شی نو د مانځۀ راكرخول ضروری نۀ دی. او د شافعی او احمد او ابن منذر او د داؤد ظاهری رحمهم الله په نز د تيمم دپاره د پاكے خاورے چه په هغے باندے دوړه وی كيدل ضروری دی. او د ابو حنيفه او مالك رحمهم الله په نز كوم څيز چه د زمكے د قسم نه دے په هغے باندے تيمم صحيح دے اگر كۀ گرد پرِ نۀ وی لكه صفا وينځلی شوے گټه چونا وغيره. او مالكی خلقو په لرگی هم جائز كړے دے دغه شان په واوره باندے. والله اعلم. (انتهٰی مختصراً مع زياده)

حَتّٰى أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ فَأَنْزَلَ اللهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ فَتَيَمَّمُوا فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ الْحُضَيْرِ وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ فَوَجَدْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ

ورته اوښائی، اے د ابوبکر اولاده ! دا څۀ اولنے برکت نۀ دے . (یعنی ستاسو په وجه سره الله پاک همیشه مسلمانانو ته فائده ورکړے ده دا هم یو نعمت (یعنی تیمم) ستاسو په سبب سره میلاؤ شو) حضرت عائشه وائی بیا مونږ هغه وخت اوښ لره پاڅوو په کوم باندے چه زۀ سوروُم نو مونږ هار د هغے د لاندے بیاموندۀ.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا اسْتَعَارَتْ مِنْ أَسْمَاءَ قِلَادَةً فَهَلَكَتْ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِهِ فِي طَلَبِهَا فَأَدْرَكَتْهُمُ الصَّلَاةُ فَصَلَّوْا بِغَيْرِ وُضُوءٍ فَلَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَكَوْا ذٰلِكَ إِلَيْهِ فَنَزَلَتْ آيَةُ التَّيَمُّمِ فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ جَزَاكِ اللهُ خَيْرًا فَوَاللهِ مَا نَزَلَ بِكِ أَمْرٌ قَطُّ إِلَّا جَعَلَ اللهُ لَكِ مِنْهُ مَخْرَجًا وَجَعَلَ لِلْمُسْلِمِينَ فِيهِ بَرَكَةً

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے هغوی د اسماء نه یو هار غوښتلے وو. هغه لاړه. رسول الله ﷺ په خپلو صحابو کښې څو کسانو لره د هغے د کتلو دپاره اولیږل. هلته د مانځۀ وخت راغلۀ (او اوبۀ نۀ میلاویدے) نو هغوی بے اودسه مونځ اوکړو. هر کله چه د رسول الله خواله واپس راغے نو شکایت ئے اوکړو. په دغه وخت د تیمم ایت نازل شو. اُسید بن حُضَیر حضرت عائشے ته اووے. چه خدائے دِ تاسوله ښۀ بدله درکړی.په خدائے قسم دے هر کله چه څۀ آفت په تاسو باندے راغلے دے. الله پاک هغه لره بهانه جوړه کړے ده او د مسلمانانو فائده ئے کړے ده[1].

عَنْ شَقِيقٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ عَبْدِ اللهِ وَأَبِي مُوسٰى فَقَالَ أَبُو مُوسٰى يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا أَجْنَبَ فَلَمْ يَجِدِ الْمَاءَ شَهْرًا كَيْفَ يَصْنَعُ بِالصَّلَاةِ فَقَالَ

د شقیق نه روایت دے چه زۀ د عبد الله بن مسعود او د ابوموسیٰ په خوا کښې ناست وم. ابوموسیٰ اووے. اے ابوعبد الرّحمٰن (دا کنیت دے د ابن مسعود) ، کچرے یو سړی ته جنابت شوے وی او هغۀ ته د یوے میاشتے پورے اوبۀ ملاؤ نشی نو هغه به د مانځۀ

[1] نووی رحمه الله وئیلی دی دد ے حدیث نه دا وتلی دی چه کوم سړی ته اُوبۀ او خاوره دواړه نۀ میلاویږی هغه دِ دغه شان مونځ اوکړی او په دے مسئله کښې د سلفو او خلفو اختلاف دی. امام شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار کښې وئیلی دی چه د احمد او شافعی رحمهما الله او اکثر اهل حدیثو دا قول دے چه مونځ به کوی بیا مانځۀ دوباره کول واجب دی یا نۀ دی. نو په دے کښې اختلاف دے د شافعی رحمه الله مشهور قول دادے چه دوباره کول واجب دی.او د احمد او مزنی اوسحنون او د ابن منذر رحمهم الله قول دادے چه دوباره کول واجب نۀ دی او د مالک او ابوحنیفه رحمهما الله ه نز داسے سړے به مونځ اوکړی. لیکن قضاء د دغه مانځۀ واجب ده. او د امام مالک رحمه الله په نز واجب نۀ دی. دا ټول څلور قولو نه شول په دے مسئله کښې او یو پنځم قول هم دے چه مونځ لوستل مستحب دی او دوباره کول واجب دی.

عَبْدُ اللهِ لَا يَتَيَمَّمُ وَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ شَهْرًا فَقَالَ أَبُو مُوسَى فَكَيْفَ بِهٰذِهِ الْآيَةِ فِي سُورَةِ الْمَائِدَةِ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَقَالَ عَبْدُ اللهِ لَوْ رُخِّصَ لَهُمْ فِي هٰذِهِ الْآيَةِ لَأَوْشَكَ إِذَا بَرَدَ عَلَيْهِمُ الْمَاءُ أَنْ يَتَيَمَّمُوا بِالصَّعِيدِ فَقَالَ أَبُو مُوسَى لِعَبْدِ اللهِ أَلَمْ تَسْمَعْ قَوْلَ عَمَّارٍ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَاجَةٍ فَأَجْنَبْتُ فَلَمْ أَجِدِ الْمَاءَ فَتَمَرَّغْتُ فِي الصَّعِيدِ كَمَا تَمَرَّغُ الدَّابَّةُ ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ أَنْ تَقُولَ بِيَدَيْكَ هٰكَذَا ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدَيْهِ الْأَرْضَ ضَرْبَةً وَاحِدَةً ثُمَّ مَسَحَ الشِّمَالَ عَلَى الْيَمِينِ وَظَاهِرَ كَفَّيْهِ وَوَجْهَهُ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ أَوَلَمْ تَرَ عُمَرَ لَمْ يَقْنَعْ بِقَوْلِ عَمَّارٍ

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزَى عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلًا أَتَى عُمَرَ فَقَالَ إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أَجِدْ مَاءً فَقَالَ لَا تُصَلِّ فَقَالَ عَمَّارٌ أَمَا تَذْكُرُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ أَنَا وَأَنْتَ فِي سَرِيَّةٍ فَأَجْنَبْنَا فَلَمْ نَجِدْ مَاءً فَأَمَّا

سره څۀ کوی؟ عبد اللهﷺ اووے . هغۀ به تیمم نۀ کوی اګر کۀ د یو ے میاشتے پورے اوبۀ ملاؤ نشی.ابوموسیٰؓ اووے. بیا په سورة مائده کښې چه دا کوم آیت دے. کۀ چرے اوبۀ اونۀ مومئ نو پاکه خاوره سره تیمم کوئ: عبدالله اووے. کۀ چرے دد ے آیت نۀ دوی ته اجازت ورکړے شی. په جنابت کښې د تیمم کولو. نو هغه به رو رو د اوبو د یخیدو په صورت کښې هم په تیمم کولو کښې لګیا شی. ابوموسیٰؓ اووے تاسو د عمار حدیث نه دے اوریدلے. چه رسول اللهﷺ زۀ دیو کار دپاره اولیږلم . هلته زۀ جنب شوم او اوبۀ نۀ ملاویدے نو په خاورو کښې داسے ځملاستم لکه څنګه چه څاروے ځملی. د هغے نه پس د رسول اللهﷺ خواله راغلم او هغۀ ته مې بیان اوکړو. هغۀ اوفرمائیل چه تا له کافی وو. په د ے شان په دواړو لاسونو سره کول. بیا هغه په دواړو لاسونو باند ے یو ځل په زمکه اووهل او ګس لاس ئے په ښی لاس باند ے راښکودۀ او د ورغوو ظاهر ئے هم او مسح ئے کړو مخ خپل. عبد الله اووے چه تاته پته ده چه حضرت عمرؓ د عمارؓ په حدیث پوره والے اونۀ کړو[1].

عبد الرحمٰن بن ابزیٰؓ د خپل پلار نه روایت کوی. چه یو سړے د حضرتؓ عمر خواله راغے . او اوئے ویل ماته جنابت شوے دے او اوبۀ نۀ میلاویږی. هغۀ ورته اوفرمایل. مونځ مۀ کوه. عمارؓ اووے. اے امیر المؤمنین تاته یاد نۀ دی. هر کله چه زۀ او تۀ د لښکر په یوه

[1] عبد الله رضی الله چه کوم دا اووے چه هغه یعنی جنبی به تیمم نۀ کوی. اګر کۀ د یو ے میاشتے پورے اوبۀ نۀ میلاویږی. هغه دد ے وجے نه اووے چه جنب لره د هغۀ په نز تیمم صحیح نۀ وو. د حضرت عمر رضی الله عنه دغه قول وو. لیکن نورو صحابو کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله د هغے خلاف کړے دے او بیا د مجتهدینو اجماع اوشوه. چه تیمم د جنابت دپاره صحیح دے. او پورته تیر شوی دی چه عمر او عبد الله رضی الله عنهما د ے قول ته رجوع کړے ده. حضرت عمر رضی الله د عمار رضی الله په حدیث باند ے قناعت نۀ د ے کړے یعنی صرف د عمار په روایت سره د هغۀ تسلی او نۀ شوه. نۀدا چه حضرت عمر عمار لره دروغجن اوګڼړو.

أَنتَ فَلَمْ تُصَلِّ وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فِي التُّرَابِ وَصَلَّيْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ أَنْ تَضْرِبَ بِيَدَيْكَ الْأَرْضَ ثُمَّ تَنفُخَ ثُمَّ تَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَكَ وَكَفَّيْكَ فَقَالَ عُمَرُ اتَّقِ اللهَ يَا عَمَّارُ قَالَ إِنْ شِئْتَ لَمْ أُحَدِّثْ بِهِ قَالَ الْحَكَمُ وَحَدَّثَنِيهِ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزَى عَنْ أَبِيهِ مِثْلَ حَدِيثِ ذَرٍّ قَالَ وَحَدَّثَنِي سَلَمَةُ عَنْ ذَرٍّ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ الَّذِي ذَكَرَ الْحَكَمُ فَقَالَ عُمَرُ نُوَلِّيكَ مَا تَوَلَّيْتَ

حصه کښې وو. بيا مونږ ته جنابت اوشو. او اوبه نه وې. تا خو مونځ او نه کړو. ليکن زۀ په خاورو کښې اورغښتم او مونځ م اوکړو رسول الله ﷺ اوفرمائيل . تا لره کافي وو خپل دواړه لاسونه په زمکه باندې وهل بيا هغې لره پوکل او بيا مسحه کول په مخ او دواړو ورغوو باندې. حضرت عمرؓ اووې. د خدائې نه اويرېږه اې عمارؓ (يعنې په سوچ سره حديث بيانوه) عمّارؓ اووې. کچرې ته وائې نو زۀ به دا حديث نه بيانوم (کۀ چرې دا دې په پټولو کښې څۀ مصلحت وی. ځکه چه د خليفه اطاعت واجب دې) او په يو روايت کښې دی چه حضرت عمرؓ اووې. ستاسو د روايت بار ستاسو دپاسه دې[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزَى عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلًا أَتَى عُمَرَ فَقَالَ إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أَجِدْ مَاءً وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَزَادَ فِيهِ قَالَ عَمَّارٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنْ شِئْتَ لِمَا جَعَلَ اللهُ عَلَيَّ مِنْ حَقِّكَ لَا أُحَدِّثُ بِهِ أَحَدًا وَلَمْ يَذْكُرْ حَدَّثَنِي سَلَمَةُ عَنْ ذَرٍّ

عبد الرّحمٰن بن ابزیؓ د خپل پلار نه روايت کوی. چه يو سړې د حضرت عمرؓ خواله راغې. او هغۀ اووې. ما ته جنابت شوې دې. او اوبه ميلاو نه شوې. بيائې بيان کړو حديث لره هغه شان لکه چه پورته ذکر شو. په دې کښې دومره زياته ده چه عمّارؓ اووې اې اميرالمؤمنين خدائې پاک ستا حق په مونږ باندې کړې دې. (چه ته خليفه ئې او زۀ ستا رعيت يم) کۀ چرې ته فرمائې نو زۀ به دا حديث چاته نه بيانوم.

عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ أَقْبَلْتُ أَنَا وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ يَسَارٍ مَوْلَى مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبِي الْجَهْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ

د ابن عباس د مولی عمير نه روايت دې . چه زۀ او عبد الله بن يسار د اُمُّ المؤمنين ميمونې د آزاد کړی غلام ابوالجهم بن حارث خواله لاړو. ابو الجهم اووې رسول الله ﷺ د بير جمل (مدينې ته نزدې يو ځائې دې)

[1] نووئؒ وائی دا دې حديث نه دليل راوړی هغه خلق چه هغه وائی تيمم په ګټه باندې صحيح دې. او په هغه ځيز باندې چه په هغې باندې ګرد نه وی. ځکه چه کۀ د ګرد کيدل ضروری دې. نو هغه به خپل لاسونه نۀ څنډل د هغې جواب دا دې چه د څنډلو نه دلته غرض دا نۀ وو چه بالکل د ګرد د لاسونو نه لرې شی بلکه ډير ګرد پرلګيدلې وو په دې وجه هغه لاسونه اوڅنډل او ګرد ئې کم کړو. او دا مستحب دی

الأَنْصَارِيِّ فَقَالَ أَبُو الْجُهَيْمِ أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ

د طرفنه راغې. په لاره کښې يو سړے ميلاؤ شو هغهٔ هغوی ته سلام اوکړو حضرت ﷺ د سلام جواب ورنهٔ کړو. ترد ے پورے چه د يو ديوال خواله راغے او مسحه ئےوکړهٔ په مخ او دواړو لاسونو باندے. او بيا ئے د سلام جواب ورکړو[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا مَرَّ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبُولُ فَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ

د ابن عمرؓ نه روايت دے چه يو سړے را اووتو او رسول الله ﷺ متيازے کولے. هغهٔ سلام اوکړو حضرت ﷺ د سلام جواب ورنهٔ کړو[2].

بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ الْمُسْلِمَ لَا يَنْجُسُ

باب: مسلمان نجس کيدے نهٔ شي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ لَقِيَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَرِيقٍ مِنْ طُرُقِ الْمَدِينَةِ وَهُوَ جُنُبٌ فَانْسَلَّ فَذَهَبَ فَاغْتَسَلَ فَتَفَقَّدَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا جَاءَهُ قَالَ أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقِيتَنِي وَأَنَا جُنُبٌ فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ حَتَّى أَغْتَسِلَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه هغه د رسول الله ﷺ سره ميلاؤ شو او هغه جنب وو. نو پټ شولو او د غسل کولو دپاره لاړو. رسول الله ﷺ هغه لره تلاش کولو. پس هر کله چه هغه راغے نو تپوس ئے تر نه اوکړو کوم خائے وے؟ هغوی اووے. يا رسول الله ﷺ! څهٔ وخت چه تهٔ خما سره ملاؤ شوے دغه وخت زهٔ جنب وُم. او ماته بد ښکاريدل ستا سره کيناستل د کومے پورے چه م غسل نهٔ وو کړے. رسول

---

[1] نووی رحمه الله ويلی دی دغه وخت به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اوبهٔ ميلاؤ شوی نهٔ وی. ولے چه د اوبو په موجودګئ کښې تيمم صحيح نهٔ دے اګر کهٔ د مانځهٔ وخت تنګ وی يا مونځ د جنازے وی يا د اختر وی. او د جمهور علماؤ دغه مذهب دے. او ابوحنيفه رحمه الله وائی د اوبو په موجودګئ کښې تيمم صحيح دے. د جنازے او اختر د مانځهٔ دپاره کچرے د فوت کيدو يره ئے وی. او بغوی نقل کړی دی چه کهٔ چرے د فرض مانځهٔ هم وخت تنګ پاتے شی. نو په تيمم سره دِ مونځ اوکړی. بيا دِ اودس اوکړی او قضادِ اوکړی. او تيمم په ديوال باندے صحيح دے. او د نفلونو او سجدهٔ تلاوت، او سجدهٔ شکر او مس مصحب دپاره هم صحيح دے. انتهٰی مختصراً

[2] ددے نه معلومه شوه چه د متيازو کولو په وخت د سلام جواب نهٔ دی ورکول پکار او سلام کول هم په دغسے حالت کښې مکروه دی. او کوم سړے چه د حاجت دپاره کينی هغه لره د الله ذکر کول مکروه دی. هغه به نهٔ تسبيح وائی نهٔ تحليل نه به د سلام جواب ورکوی. نهٔ د بل پرنجی او نهٔ پخپله د پرنجی نه پس به اَلْحَمْدُ لِلّٰه وائی. نهٔ به د اذان جواب ورکوی. دغه شان د حاجت په وخت خبرے کول هم مکروه دی. البته کهٔ ضرورت وی نو صحيح دی. او د ابراهيم نخعی رحمه الله او ابن سيرين رحمه الله نه منقول دے. چه په خبرو کولو کښې څهٔ قباحت نشته. نووی رحمه الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللهِ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ

الله ﷺ اوفرمايل. سُبْحَنَ الله ! مؤمن چرته نجس كيږي[1].

عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَهُ وَهُوَ جُنُبٌ فَحَادَ عَنْهُ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ كُنْتُ جُنُبًا قَالَ إِنَّ الْمُسْلِمَ لَا يَنْجُسُ

د حذيفهؓ نه روايت دے هغه د رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو. او هغه جنابت كښې وو. نو هغه جدا شو د هغهٔ نه او غسل ئې اوكړو بيا راغے. او اوئے ويل چه زهٔ جنب وم. هغهٔ ؐ اوفرمائيل. مسلمان نجس نهٔ وى.

بَاب ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى فِي حَالِ الْجَنَابَةِ وَغَيْرِهَا

باب : د جنابت په حالت كښې د الله ذكر كول

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْكُرُ اللهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ

د أُمُّ المؤمنين عائشےؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د رب ذوالجلال ذكر هر وخت كولو[2].

بَاب جَوَازِ أَكْلِ الْمُحْدِثِ الطَّعَامَ وَأَنَّهُ لَا كَرَاهَةَ فِي ذٰلِكَ وَأَنَّ الْوُضُوءَ لَيْسَ عَلَى الْفَوْرِ

باب : بغير د اودس نه خوړل صحيح دى او اودس فى الفور واجب نهٔ دے

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ فَأُتِيَ بِطَعَامٍ فَذَكَرُوا لَهُ الْوُضُوءَ فَقَالَ أُرِيدُ أَنْ أُصَلِّيَ فَأَتَوَضَّأَ

د ابن عباسؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ د تَشَےْ نه را اووتو. او غله راوړے شوه. خلقو هغهٔ ته اودس ياد كړو. هغهٔ اوفرمايل. ولے زهٔ مونځ كوم چه اودس اوكړم[3].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

د ابن عباسؓ نه روايت دے مونږ د رسول الله ﷺ سره وو هغهٔ د لوبو

---

[1] مؤمن خواه كهٔ ژوندے وى يا مړ، جنابت نجاست حكمى دے نهٔ حقيقى. او كافر هم په مثل د مسلمان دے په طهارت ظاهرى كښې ليكن هغه نجس دے. باطنًا په وجه د اعتقاد د نجاست. او د بعضے علماؤ په نزد د كافر نجاست ظاهرى دے. او دغه قول دے د شيعاگانو اوس چه مسلمان پاك شو نو د هغهٔ خوله او لعاب او اوښكے ټول پاك دى. خواه كهٔ بے اودسه وى يا جنب يا حائضه يا نفاسه وى. او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده. او دغه شان بچى هم پاك دى. نووى رحمه الله

[2] د دے حديث نه معلومه شوه چه د جنابت په حالت كښې تسبيح ، تهليل، ذكر الهى صحيح دے او په دے باندے اجماع ده ليكن په دے كښې اختلاف دے چه قرآن لوستل جنبى يا حائضے لره صحيح دى يا نهٔ دى. جمهور علماؤ په نزد حرام دى. اگر كهٔ يو ايت يا د هغے نه هم كم وى.

[3] نووى رحمه الله ويلى دى مُحدِث يعنى بے اودسه لره خوړل څكل ذكر الهى او تلاوت قرآن ټول صحيح دى. او په دے باندے د اُمت اجماع ده

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ مِنَ الْغَائِطِ وَأُتِيَ بِطَعَامٍ فَقِيلَ لَهُ أَلَا تَوَضَّأُ فَقَالَ لِمَ أَأُصَلِّي فَأَتَوَضَّأُ

بولو نه رااووتو. غله راوړے شوه. خلقو عرض اوکړو. تاسو اودس نه کوئ؛ هغهٔ اوفرمايل. ولے څهٔ مونځ کول دی چه اودس اوکړم.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ذَهَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْغَائِطِ فَلَمَّا جَاءَ قُدِّمَ لَهُ طَعَامٌ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا تَوَضَّأُ قَالَ لِمَ أَلِلصَّلَاةِ

د ابن عباسؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ تتئ ته تشريف يوړلو. کله چه واپس راغې نو غله راوړے شوه. خلقو عرض اوکړې. يارسول اللهﷺ تاسو اودس نهٔ کوئ؛ هغهٔ ورته اوفرمايل ولے څهٔ مونځ کول دی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَضَى حَاجَتَهُ مِنَ الْخَلَاءِ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ طَعَامٌ فَأَكَلَ وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً قَالَ وَزَادَنِي عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قِيلَ لَهُ إِنَّكَ لَمْ تَوَضَّأْ قَالَ مَا أَرَدْتُ صَلَاةً فَأَتَوَضَّأَ وَزَعَمَ عَمْرٌو أَنَّهُ سَمِعَ مِنْ سَعِيدِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ

د ابن عباسؓ نه روايت دے. چه رسول اللهﷺ د لويو بولو نه فارغ شو نو هغه وخت خوراک راوړلے شو. هغهٔ اوخوړلو او اوبو له ئے لاس ورنهٔ وړلو او په دويم روايت کښې هم دغه شان دی. خلقو اووے يا رسول اللهؐ! تاسو اودس ولے نهٔ کوئ؟ هغهٔ اوفرمائيل. ما څهٔ مونځ کول غوښتل چه اودس مے کولو.

بَاب مَا يَقُولُ إِذَا أَرَادَ دُخُولَ الْخَلَاءِ

باب: بيت الخلاء ته د تلو په وخت څهٔ ويل پکار دی

عَنْ أَنَسٍ فِي حَدِيثِ حَمَّادٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ وَفِي حَدِيثِ هُشَيْمٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا دَخَلَ الْكَنِيفَ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ

د انسؓ نه روايت دے. چه رسول اللهﷺ به کله تتئ ته تلو نو فرمايل به ئے. اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ يعنی اے الله رهٔ پناه غوارم ستا سره د شيطانانو او د شيطانونه يا د پليتو او پليتو نه يا د شيطانانو او د ګناهونو نه او په يو روايت کښې دی. هر کله به چه هغوی کنيف ته تلل. يعنی د لوئی اودس ماتی مقرر شوی ځائے ته

بَاب الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ نَوْمَ الْجَالِسِ لَا يَنْقُضُ الْوُضُوءَ

باب: په ناسته ناسته اوده کيدو سره اودس نهٔ ماتيږی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنَاجِي رَجُلًا

د انس بن مالکؓ نه روايت دے چه مونځ تيار شو او رسول اللهﷺ د يو سړی په غوږ کښې خبرے کولے. بيائے خبرے کولے د هغهٔ سره

فَلَمْ يَزَلْ يُنَاجِيهِ حَتَّى نَامَ أَصْحَابُهُ ثُمَّ جَاءَ فَصَلَّى بِهِمْ	تر دے پورے چه صحابه اوده شو بیا راغے او مونځ ئے لوکړو دهغوی سره
عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنَامُونَ ثُمَّ يُصَلُّونَ وَلَا يَتَوَضَّئُونَ قَالَ قُلْتُ سَمِعْتَهُ مِنْ أَنَسٍ قَالَ إِي وَاللهِ	قتادهؓ وئیلی دی ما د انسؓ نه اوریدلی دی چه رسول اللهﷺ صحابو اوده شوی وو. بیا به ئے مونځ اوکړو او اودس به ئے نه کولو شعبه وائی ما د قتادهؓ نه تپوس اوکړو تا دا د انسؓ نه اوریدلی دی هغوی اووے آو. په الله قسم دے.
عَنْ أَنَسٍ أَنَّهُ قَالَ أُقِيمَتْ صَلَاةُ الْعِشَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ لِي حَاجَةٌ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنَاجِيهِ حَتَّى نَامَ الْقَوْمُ أَوْ بَعْضُ الْقَوْمِ ثُمَّ صَلَّوْا	د انسؓ نه روایت دے چه د ماسخوتن د مانځه تکبیر اوشو یو سړی اووے خما څه حاجت دے. رسول اللهﷺ د هغه سره په ولاړے په غوږ کښې خبرے شروع کړے. تر دے پورے چه ټول خلق یا بعضے خلق اوده شو. بیا هغوی مونځ اوکړو[1].

[1] په غوږ کښې خبرے کول هغه وخت مکروه دی. هر کله چه یو سړے جدا وی. او د تولی په وړاندے منع نه دی. او مونځ اگر چه تیار وو مگر دا خبرے به ضروری وے. چه د مانځه نه ئے هم مخکښې اوګنړلے. اوس اوده کیدل مطلقًا د اودس ماتونکی نه دی. او د بعضو په نز مطلقًا اودس لره ماتونکے دی. او د بعضو په نز ډیر خوب ماتونکے دے اودس لره او لږ خوب نه دے. او د بعضو په نز په ناستے او ولاړے یا په رکوع او سجده کښې ماتونکے نه دے. او په ډډه او نیغ سملاستو سره ماتونکے دے. او د بعضو په نز که چرے کناتی په زمکه لګیدلی وی نو ماتونکے نه دے ګنی نو ماتونکے دے. (نووی رحمه الله مختصراً) او په پریشانئ سره اودس نه ماتیږی

كِتَابُ الصَّلٰوةِ

بَاب بَدْءِ الْأَذَانِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ الْمُسْلِمُوْنَ حِيْنَ قَدِمُوا الْمَدِيْنَةَ يَجْتَمِعُوْنَ فَيَتَحَيَّنُوْنَ الصَّلَوَاتِ وَلَيْسَ يُنَادِيْ بِهَا أَحَدٌ فَتَكَلَّمُوْا يَوْمًا فِيْ ذٰلِكَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ اتَّخِذُوْا نَاقُوْسًا مِثْلَ نَاقُوْسِ النَّصَارٰى وَقَالَ بَعْضُهُمْ قَرْنًا مِثْلَ قَرْنِ

د مانځۀ مسئلے[1]

باب : د اذان شروع

د عبد الله بن عمرؓ بیان دے. چه مسلمانان کله مدینے ته راغلل نو جمع به شول او په مقرر وخت به ئے مونځ ادا کولو. او یو سړی به اذان نه کولو. یو ورځ مسلمانانو مشوره اوکړه چه د مانځۀ د خبردارئ دپاره د عیسایانو پشان سُورنے وهُو. یا د یهودیانو په شان ښکر وهُو. او حضرت عمرؓ مشوره ورکړه چه یو سړے د مقرر کړے شی

---

[1]: د ایمان نه پس په ټولو عبادتونو کښې مونځ مخکښې دے. او پاکوالے د مانځۀ دپاره شرط دے. یعنی د پاکوالی نه بغیر مونځ نۀ صحیح کیږی داسے د پاکوالی د احکامو نه پس د مانځۀ احکام لیکلی شوی دی. په قیامت کښې به د ټولو عملونو نه مخکښې د مانځۀ په باره کښې تپوس کیږی. د چا مونځ چه صحیح ثابت شو د هغۀ د عملونو حساب به په اسانئ سره اخستے کیږی. او د چا مونځ چه صحیح نۀ شو د هغۀ د نورو عملونو به څۀ قدر او قیمت نۀ وی. د دے دپاره په هر مسلمان لازم دی. چه هغه د مانځۀ په خاص طور سره خیال اوساتی. هر یو مونځ په خپل مقرر وخت د زړۀ په اخلاص او په دمه دمه سره کوی. او هغه کار کوم چه په عبادت د الهی کښې خلل غورځوی لکه خوړل او څکل او لوئے بول او واړۀ بول وغیره نه اول خپل خان فارغ کړی. او د دے نه پس په مقرر شوی وخت مونځ ادا کړی. په آخرت کښې به په مانځۀ سره ډیرے زیاتے فائدے ملاویږی چه د هغے بیان په احادیثو کښې موجود دے. د دے نه علاوه په دے دنیا کښې هم ئے ډیرے زیاتے فائدے دی.

اوّل دا چه د مانځۀ په وجه د وړوکوالی نه په انسان کښې د وخت د پابندئ عادت جوړیږی. او دا خبره بالکل په ډاګه ده چه د وختونو پابندی په اصل کښې ښۀ صفت دے چه د هغے د ښۀوالی په مشرق او مغرب کښې چا ته انکار نشته.

دویم دا چه هر مونځ کونکے صرف د مانځۀ په وجه سره د خپلے بهر او دننه صفایئ او د پاکوالی انتظام لری. او صفائی په حقیقت کښې د صحت ذمه واره ده. چه د انسان د صحت دپاره ډیر زیاته ضروری ده.

دریم دا چه په هر مونځ کښې ولاړه ، رکوع، سجده او قعده کیږی چه د هغے په وجه د بدن په هر جوړ کښې طاقت پیدا کیږی. او په بدن کښې چه کومه سستی او ناراستی پیدا کیږی هغه د مونځ په ادا کولو یعنی د مونځ په ناسته ولاړه ختم شی.

څلورم دا چه پنځ وخته مونځ د کولو په وجه په انسان کښې د شکر ادا کولو د خلوص او د اخلاص عادت پیدا کیږی. او دا خبره بالکل ښکاره ده چه د خلقو احسان او مهربانی لره هغه څوک منی چه هغه د پروردګار دعالَم شکر ادا کوی اویوانسان دمانځۀ په حالت کښې دپروردګار داحساناتو شکریه ادا کوی.

پنځم دا چه د ډیرو او زیاتو ګناهونو نه د منع کونکے څیز صرف مونځ دے. بعضو وختونه یو سړے د خپل بدقسمته نفس د وجے نه د یو ګناه کولو ته تیار شی لیکن کله چه دۀ ته د مونځ د قضا کیدو خیال راشی نو هغه فوراً د هغه ګناه د کار نه جدا شی.

شپږم دا چه د زړۀ د صفایئ او زیات د توجه د قوت اصلی سبب صرف مونځ دے. او ترڅو پورے چه څوک د مانځۀ عادی نۀ شی تر هغه وخته پورے دۀ ته د توجه قوت نۀ حاصلیږی او تر څو پورے دا قوت نۀ حاصلیږی تر هغه وخت پورے فکرِ سلیم او عقل او شعور نۀ حاصلیږی. او خدائے پاک د ټولو نه زیات پوهیږی.

الْيَهُودِ فَقَالَ عُمَرُ أَوَلَا تَبْعَثُونَ رَجُلًا يُنَادِي بِالصَّلَاةِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بِلَالُ قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ

چه هغه خلقو ته د مانځه دپاره خبر ورکوی په دے خبره رسول الله ﷺ اوفرمایل چه اے بلاله ! پاسه . او د مانځه دپاره اعلان اوکره[1]

بَاب الْأَمْرِ بِشَفْعِ الْأَذَانِ وَإِيتَارِ الْإِقَامَةِ

باب: د اذان کلمات دوه دوه خله او د تکبیر کلمات د قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة نه علاوه یو و خله وایی:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ أُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَشْفَعَ الْأَذَانَ وَيُوتِرَ الْإِقَامَةَ زَادَ يَحْيَى فِي حَدِيثِهِ عَنِ ابْنِ عُلَيَّةَ فَحَدَّثْتُ بِهِ أَيُّوبَ فَقَالَ إِلَّا الْإِقَامَةَ

د حضرت انس بیان دے. چه د اذان الفاظ دوه دوه خله او د اقامت الفاظ د یو یو خله ویلو دپاره حضرت بلال ته حکم ورکړے شو. او یحیٰی د ابن عُلَیّه په ذریعه دا اضافه کړے ده چه ما ددے د حضرت ایّوب نه تپوس اوکړو نو هغوی اووے چه په اقامت کښ صرف د قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ الفاظ دوه دوه خله وایی[2].

---

[1] د حضرت عمر فاروق عنه مشوره رسول الله ﷺ قبوله کړله. ددے حدیث نه د حضرت عمر فاروق اعظم فضیلت او دا هم ثابتیږی چه په نبی حکمونو کښ او اسلامی کارونو کښ مشوره کول غوره دی. حضرت ﷺ دا مشوره کول واجب وو یا مستحب وو په دے باره کښ د علماؤ په خپلو کښ اختلاف دے. لیکن صحیح مسئله داده. چه حضرت ﷺ ته دا مشوره کول واجب وو ولے چه پروردګار ویلی دی وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ. ددے نه علاوه د رسول الله ﷺ حضرت بلال ته دا ارشاد چه اے بلاله پاسه او د مانځ دپاره اعلان اوکره. دا دغه وخت شرعی اذان نه وو بلکه د عبد الله بن زید د خوب بیانولو نه پس رسول الله ﷺ د موجوده اذان ویلو حکم صادر فرمایلے دے ددے حدیث نه دا هم ثابته ده. چه اذان به په ولاړے ویلے شی. او د اکثرو عالمانو په نز په ناستے اذان ورکول صحیح نه دی. د علامه امام نووی بیان دے چه زمونږ د علماؤ په نز په ولاړے اذان ورکول سنت دی او په ناستے هم اذان ورکیدے شی خو د سنتو نه خلاف دی

[2] امام نووی رحمه الله ویلی دی چه زمونږ او د جمهورو علماؤ دغه قول دے چه د تکبیر یولس کلمات دی کوم چه لاندنی دی الله اکبر . الله اکبر . أشهد أن لا إله إلا الله . أشهد أن محمدا رسول الله . حي على الصلاة . حي على الفلاح . قد قامت الصلاة . قد قامت الصلاة . الله اکبر . الله اکبر . لا إله إلا الله . د امام مالک رحمه الله په نز د تکبیر لس کلمات دی چه په هغے کښ قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة هم یو خله ویلے کیږی. او د امام شافعی رحمه الله قدیم قول د امام مالک رحمه الله بالکل یوشان دے. ورسره هغوی دا هم ویلی دی چه په اول آخر کښ د " اللهُ اَكْبَرُ " یو یو خل وایی: په دے بنیاد د امام شافعی رحمه الله په نز د تکبیر صرف اته کلمات دی او د امام ابوحنیفه مذهب شاذ دے د هغه په نز هرے یوے کلمے لره دوه دوه خله ویلی پکار دی په دے شان د تکبیر د کلمو تعداد اوولس جوړیږی. د خطابی رحمه الله بیان دے. چه په حرمینو ، حجاز، شام، مصر ، یمن او مغربی ملکونو کښ د جمهور علماؤ مذهب دغه دے. چه قد قامت الصلاة لره دوه خله او باقی کلمات اقامت لره یو یو خله ویل پکار دی. او " اللهُ اَكْبَرُ " کوم چه په اول او آخر کښ دوه دوه خله ویلے شی هغه په حقیقت کښ د یو خله شان دی. ځکه چه په اذان کښ الله اکبر چه کوم څلور خله ویلے شی د هغے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ ذَكَرُوا أَنْ يُعْلِمُوا وَقْتَ الصَّلَاةِ بِشَيْءٍ يَعْرِفُونَهُ فَذَكَرُوا أَنْ يُنَوِّرُوا نَارًا أَوْ يَضْرِبُوا نَاقُوسًا فَأُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَشْفَعَ الْأَذَانَ وَيُوتِرَ الْإِقَامَةَ

د حضرت انس بیان دے صحابو په خپلو کښې مشوره اوکړه چه خلقو لره د مانځهٔ د وخت د ښودلو دپاره د څهٔ څیز مقرر کول پکار دی په دے بعضے خلقو اووے. چه ددے دپاهر د اُور بل کړئ یا بګل اوغږوئ دا رنګے حضرت بلال ته حکم ورکړے شو چه هغه دوه دوه خله د اذان کلمات ادا کړئ او د اقامت الفاظ یو یو خله اووايئ[1]

عَنْ أَنَسٍ قَالَ أُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَشْفَعَ الْأَذَانَ وَيُوتِرَ الْإِقَامَةَ

د حضرت انس نه روایت دے چه بلال ته حکم ورکړے شو چه هغه د دوه دوه خله د اذان کلمات ادا کړی او د اقامت الفاظ د یو یو خل وائی.

بَابُ صِفَةِ الْأَذَانِ

باب : د اذان د ويلو طريقه

عَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ عَلَّمَهُ هَذَا الْأَذَانَ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ثُمَّ يَعُودُ فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ مَرَّتَيْنِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ مَرَّتَيْنِ زَادَ إِسْحَقُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

د ابومحذوره بیان دے. چه رسول الله ﷺ هغهٔ ته په دے شان سره اذان ښودلے دے. کوم چه لاندے لیکلے دے اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. بیا ددے نه پس به رااوګرځي او أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ به دوه خله اووائي. او ددے نه پس به أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ دوه خله اووائي. او ددے نه پس حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ دوه دوه خله به اووائي. او د اسحق بیان دے چه ددے نه پس به اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ[2].

قاعده داده چه دوه خله اللهُ اکبرُ په یو ساه سره ویلے کیږی او ورستو بیا دوه خله الله اکبر په یو ساه سره ادا کولے شی. او په دغه طریقه ویل پکار دی. (نووی رحمه الله)

[1] چونکه اذان په اصل کښې د مانځهٔ دپاره جمع کیدو او د مانځهٔ د وخت د شروع کیدو اعلان دے. ددے دپاره د اذان الفاظو لره دوه دوه خله ویل پکار دی. ددے دپاره چه ټول خلق ئے واوري. او په جماعت کښې په مقرر وخت باندے جمع شی او په اقامت کښې ددے ضرورت باقی نهٔ دے پاتے. د دے دپاره د اقامت الفاظ یو یو خل ویل پکار دی. (امام نووی رحمه الله)

[2] رسول الله صلی الله علیه وسلم ابومحذوره رضی الله عنه ته د اذان کولو طریقه او الفاظ اوښودل. د صحیح مسلم په اکثرو نسخو کښې لیکلی دی چه الله اکبر د، دوه خله ویلے شی. او په نورو کتابونو کښې الله اکبر څلور خله ویل لیکلی دی. د قاضی عیاض رحمه الله بیان دے چه د صحیح مسلم په بعضے نسخو کښې هم الله اکبر څلور خله ویل لیکلی شوی دی. حاصل دا چه د الله اکبر ویلو نه پس أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ او أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ به دوه دوه خله وائی. او ددے نه پس به بیا أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ دوه خله او أَشْهَدُ أَنَّ

بَاب اسْتِحْبَابِ اتِّخَاذِ مُؤَذِّنَيْنِ لِلْمَسْجِدِ الْوَاحِدِ

باب : د يو جماعت دپاره دوه مؤذنان مقرر کول مستحب دی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُؤَذِّنَانِ بِلَالٌ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمَى

د عبد الله بن عمرؓ بیان دے چه د رسول اللهﷺ دوه اذان کونکی وو. يو حضرت بلالؓ او دويم عبد الله بن اُمّ مکتومؓ چه هغه نابينا وو.[1]

مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ دوه خله اووائی او دے ته ترجیع وائی. یعنی د شهادت کلمو لره به اول دوه خله رو وائی. او په دریم خل به نے بنهٔ په اوچت آواز سره وائی. د امام مالک او شافعي او احمد رحمه الله او د جمهور علماؤ دغه مسلک دے البته د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز ترجیع جائز نهٔ ده. ځکه چه هغهٔ ویلی دی چه د عبد الله بن زید رضی الله عنه په حدیث کښ د ترجیع ویلو ثبوت نشته د هغے صحیح جواب دادے چه عبد الله بن زید رضی الله عنه روایت ډیر وړاندے کړے دے. او د هغے نه پس په کال ۸ ھ کښ ابومحذوره رضی الله عنه چه کوم حدیث د ترجیع په ثبوت کښ بیان کړے دے. هغه بالکل صحیح حدیث دے. او قاعده د اُصولو داده چه په اول روایت باندے ورستنی روایت ته اولیت او اوچت والے حاصل وی. دغه شان صحیح حدیث د ترجیع دد ے دپاره هم قابل قبول دے. چه ابومحذوره ثقه دے. دد ے نه علاوه چه د اهل مکه او مدینه او د ټولو علماؤ عمل په ترجیع باند ے دے. (امام نووی رحمه الله)

د دوو کلمو د شهادت د ویلو نه پس حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ او الله اکبر به دوه دوه خله اووائے بیا به لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ يو خل اووائے او اذان به مکمل کړے شی. په اذان د سحر کښ عَلَى الْفَلَاحِ نه پس الصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ به دوه خله اوویلے شی دے ته تثویب ویلے شی د سحر د مانځهٔ نه علاوه په بل یو اذان کښ د تثویب د ویل څهٔ ثبوت نشته. بلکه په نورو اذانونو کښ تثویب ویل مکمل بدعت دے اګر چه د شیعه فرقے په کتابونو کښ لیکلی دی چه په اذان کښ "حَيَّ عَلٰى خَيْرِ الْعَمَلِ" وینا لره حضرت عمر رضی الله عنه په خپله زمانه کښ موقوف کړے ده. لیکن دد ے د جواز ثبوت په یو صحیح کتاب کښ څهٔ نشته. بیهقی په سنن کُبرٰی کښ په اسناد د عبد الله بن زید لیکلی دی چه هغه په مخکښ زمانه کښ به کله کله په اذان کښ حَيَّ عَلٰى خَيْرِ الْعَمَلِ ویل. دغسے د علی بن حسین رضی الله نه هم روایت دے په دغه شان. بهر حال څهٔ چه ویلی شوی دی هغه موقوف روایت دے. او د حَيَّ عَلٰى خَيْرِ الْعَمَلِ په اذان کښ د ویلو څهٔ ثبوت نشته. دغه شان په زمانه د رسالت مآب صلی الله علیه وسلم کښ چه دے کوم رواج بنودلے شی. د هغے د عبد الله بن زید او ابو محذوره یو مشهور روایت کښ د سر نه څهٔ پته نشته دے. او که چرے دے روایت لره اومنلے هم شی. نو د ۸ ھ نه مخکښ رسول الله صلی الله علیه وسلم منسوخ فرمایلے وو (نیل الاوطار)

[1] په یو جماعت کښ د دوو مؤذنانو مقرر کول د یو یا د بل د غائب کیدو په وجه سره نهٔ دے. بلکه د اکرام، احسان، او عرفان دپاره دے او : حدیث شریف معنٰی بالکل صفا ده چه په یو جماعت کښ دوه اذان کونکی مقرر کولے شی. لکه څنګه چه د حضرت بلال او عبد الله بن اُمّ مکتوم رضی الله عنهما طریقه وه. چه یو بل د صبح صادق د راختو نه مخکښ اذان کولو. او بل به د صبح صادق په وخت د اصحاب حدیث بیان دے چه په شرط د ضرورت د دوو نه هم زیات اذان کونکی مقرر کولے شی لکه څنګه چه ذی النّورین حضرت عثمان رضی الله عنه څلور مؤذنان مقرر کړے وو. حاصل دا چه د یو مؤذن نه پس بل مؤذن اذان ورکوی. البته کچرے جماعت ډیر پراخه او کهولاؤ وی او وخت بالکل تنګ وی نو خانله خانله په دوارو ګوټونو کښ دواړه مؤذنان په یو وخت اذان کولے شی خو تکبیر د اقامت به هغه کس وائی چاچه اول اذان کړے وی. او په اذان کولو جهګړا وی چه اول به څوک اذان کوی نو په خپلو کښ د د

بَابُ جَوَازِ أَذَانِ الْأَعْمٰى إِذَا كَانَ مَعَهُ بَصِيرٌ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ يُؤَذِّنُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ أَعْمٰى

باب: ړوند اذان كولے شی په شرط ددے سره چه څوک بینا ورسره وی

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشے صدیقے بیان دے چه رسالت مآب ﷺ دپاره به ړوند عبد الله ابن اُم مکتوم اذان ورکاوو[1].

بَابُ الْإِمْسَاكِ عَنِ الْإِغَارَةِ عَلَى قَوْمٍ فِي دَارِ الْكُفْرِ إِذَا سُمِعَ فِيهِمُ الْأَذَانُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُغِيرُ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ وَكَانَ يَسْتَمِعُ الْأَذَانَ فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ وَإِلَّا أَغَارَ فَسَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْفِطْرَةِ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجْتَ مِنَ النَّارِ فَنَظَرُوا فَإِذَا هُوَ رَاعِي مِعْزًى

باب: په دارالكفر كښی هر كله چه د چا اذان واوريدے شی نو په هغوی باندے د حملے كولو نه منع

د انس بن مالک بیان دے چه رسول الله ﷺ به هر وخت په دښمنانو باندے حمله کوله. او د اذان آواز ته به ئے غوږ کیښودو کۀ چرے د مخالیفینو د ښهر نه به هغۀ د اذان آواز واوریدۀ. نو په هغوی به ئے حمله نۀ کوله یو ځل هغوی د یو سړی الله اکبر الله اکبر ویل واوریدل نو اونے فرمایل دا مسلمان دے. د هغے نه پس حضرت ﷺ د هغۀ نه د أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ویل واوریدل نو ارشاد اوشو. اے سړیه! تا د دوزخ نه خلاصے اوموندۀ. د هغے نه روستو خلقو اولیدۀ هغۀ د بزو شپنکے وو.

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْقَوْلِ مِثْلِ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ لِمَنْ سَمِعَهُ ثُمَّ يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَسْأَلُ اللهَ لَهُ الْوَسِيلَةَ

باب: د اذان اوريدونكے د هغه كلمات وائی كوم چه مؤذن وائی. بيا د په رسول الله ﷺ درود شريف وائی. او د هغوی دپاره د الله تعالى نه وسيله اوغواړی

خسرې نه کار واخلی او چه د چا په نوم خسرې راواخیژی هغه به اذان کوی (مختصراً امام نوی رحمه الله) او د حضرت عائشه رضی الله عنها د ژبے هم دا روایت موجود دے

[1] ددے بیان نه د کلام مقصود دادے چه کۀ چرے د ړوند سره څوک بینا هم وی. نو ددے ړوند اذان کول کِرامتًا صحیح دی. ځکه به چه د حضرت عبد الله بن مکتوم رضی الله عنه سره به حضرت بلال رضی الله عنه وو. او زمونږ د نورو ملګرو او مشرانو بیان دے چه کۀ چرے صرف یواځے ړوند سړے اذان اووائی نو مکروه دی. (امام نووی رحمه الله)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ

ابو سعید ؓ د رسول الله ﷺ دا حکم بیان کړ چه هر کله چه تاسو اذان اورئ نو د اذان ویونکی الفاظو لره تاسو هم لولئ.[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا ثُمَّ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللهِ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ

د عبد الله بن عمرو بن عاص ؓ بیان دے چه هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. هر کله چه تاسو د مؤذن اذان واورئ نو تاسو هم هغه څۀ وایئ کوم چه مؤذن وائی. او بیا په ما باندے درود وایئ. ولے چه څوک په ما باندے یو ځل درود اووائی نو الله پاک په هغۀ باندے لس رحمتونه نازلوی. دد ے نه پس د الله تعالی نه خما ۰باره وسیله اوغواړئ. ولے چه وسیله په اصل کښ په جنت کښ ۰ مقام دے. چه هغه به الله تعالی د خپلو بندیګانو نه یو بنده ته ورکوی او زۀ امید لرهم چه هغه بنده به هم زۀ یم. او څوک چه خما دپاره وسیله (مقام محمود) اوغواړی د هغۀ دپاره به خما شفاعت واجبیږی.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ فَقَالَ أَحَدُكُمُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ قَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا

د حضرت عمر بن خطاب ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه هر کله مؤذن الله اکبر الله اکبر اووائی نو اوریدونکے د هم دغه الفاظ اووائی. او کله چه مؤذن أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ او أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ اووائی نو اوریدونکے د هم دغه الفاظ اووائی او کله چه مؤذن حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ اووائی نو اوریدونکے د لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ اووائی. بیا چه مؤذن کله حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اووائی نو اوریدونکے د لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ اووائی. دد ے نه روسته کله چه مؤذن اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ او لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ اووائی نو اوریدونکے لره هم دغه الفاظ ویل پکار دی. او کله چه اوریدونکی د زړۀ په اخلاص او په یقین سره داسے اووے نو هغه جنت ته داخل شو (په شرط

[1] په اذان کښ چه کله مؤذن حَيَّ على الصلٰوة او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اووائی نو د حضرت عمر رضی الله عنه د حدیث په بنیاد باندے اوریدونکی لره لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ویل پکار دی (امام نووی رحمه الله)

اللهُ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ

دد ے چه د اسلام د ارکانو پابند وی)

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ

سعد بن ابی وقاص د رسول الله ﷺ دا ارشاد بیان کړو. چه د مؤذن اذان چا واوریدهٔ او دا ئے اووے چه زهٔ دد ے خبر ے ګواهی ورکوم چه د الله سوا بل څوک لائق د عبادت نشته الله پاک یو دے او د هغهٔ څوک شریک نشته او محمد ﷺ د الله پاک بنده او رسول دے. زهٔ د الله په ربوبیت او د حضرت محمد ﷺ په رسالت خوشحاله یم او ما د اسلام مذهب قبول کړے دے نو د داسے سړی ګناهونه معاف کیږی[1].

بَاب فَضْلِ الْأَذَانِ وَهَرَبِ الشَّيْطَانِ عِنْدَ سَمَاعِهِ

باب: د اذان فضیلت او دد ے نه د شیطان تختیدل

عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى عَنْ عَمِّهِ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ فَجَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ يَدْعُوهُ إِلَى الصَّلَاةِ فَقَالَ مُعَاوِيَةُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ الْمُؤَذِّنُونَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

طلحه بن یحیی د خپل ترهٔ نه روایت کړے دے. چه هغه د حضرت معاویه سره ناست وو. په دے کښ دهٔ ته مؤذن د مانځهٔ د راغوښتو دپاره راغے چه په دے معاویه اووے. ما اوریدلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه د قیامت په ورځ به د مؤذن څټ د تولو (خلقو نه) زیات اوږد وی[2].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د جابر بن عبد الله بیان دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی

[1] دد ے احادیثو نه ثابته شوه چه د مؤذن هر ے کلمے لره د اوریدونکے وائی او د اذان د ختمیدو انتظار د نه کوی. او د کلمهٔ شهادتین نه پس د هغه دُعا لولی. کومه چه حضرت سعد بیان کړے ده.

[2] د اذان په الفاظو اوریدو سره شیطان تختی او د مؤذنانو د څټ د تولو نه د زیات اوګدیدو وجه داده. چه چونکه دے د خپل رب د رحمت او فضل د هر چانه زیات شوق مند او منتظر وی. څکه د پور ته څیز د لیدلو باعث د شوق نه د هغوی څټونه د تولو نه زیات لوګده به نظر راځی. د بعضے خلقو بیان دے چه د قیامت په ورځ هر کله چه خلق په خولو کښ ډوب شی. نو د اذان کونکو څټونه به اوږدهٔ وی هغه به په خولو کښ نهٔ ډوبیږی. بلکه د اخرت د عذاب نه به محفوظ وی. بعض خلقو ویلی دی چه د څټ د اوږدیدو معنی ده چه چونکه اهلِ عرب هر سردار ته اوږد څټ والا او ګردن فراز وائی او مؤذن به هم د قیامت په ورځ اوږد څټ والا سردار وی. ابن عربی ویلی دی د اوږد څټ کیدو معنی داده چه د مؤذنینو اعمال به د نورو خلقو په نسبت زیات بنهٔ وی. قاضی عیاض رحمه الله لیکلی دی چه څهٔ خلقو د حدیث لفظ اِعناقًا لره د الف زیر سره لیکلے دے. په دے صورت کښ دا معنی به وی چه د نورو په نسبت مؤذن حضرات د تولو نه زر جنت ته په منډه ځی. او خوشحاله او خوشحاله به وی. (امام نووی رحمه الله)

وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ذَهَبَ حَتَّى يَكُونَ مَكَانَ الرَّوْحَاءِ قَالَ سُلَيْمَانُ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الرَّوْحَاءِ فَقَالَ هِيَ مِنَ الْمَدِينَةِ سِتَّةٌ وَثَلَاثُونَ مِيلًا

چه د مانځۀ دپاره د اذان د الفاظو په اوریدو سره شیطان دومره لرے تختی لکه روحاء. اعمش وائی ما د ابوسفیان نه تپوس اوکړو روحاء کوم ځائے دے. نو هغوی اووے چه د مدینے نه د شپږ دیرشو (۳٦) میلو په فاصله باندے د روحاء آبادي واقع ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ أَحَالَ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ صَوْتَهُ فَإِذَا سَكَتَ رَجَعَ فَوَسْوَسَ فَإِذَا سَمِعَ الْإِقَامَةَ ذَهَبَ حَتَّى لَا يَسْمَعَ صَوْتَهُ فَإِذَا سَكَتَ رَجَعَ فَوَسْوَسَ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. د اذان د اوریدو سره شیطان کوزے سترګے اوتختی. ددے دپاره چه اذان کلمات نۀ اوری. او چه اذان ختم شی نو شیطان بیا واپس راشی. او د خلقو په زړونو کښې وسوسے غورځوی. او د اقامت د تکبیر په وخت بیا لاړ شی. ددے دپاره چه د اقامت اواز نۀ اوری. او کله چه تکبیر ختم شی نو بیا واپس راشی او د خلقو په زړونو کښې وسوسے غورځوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ وَلَهُ حُصَاصٌ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی مؤذن چه کله اذان کوی نو شیطان د هغه ځائے نه په شا اوګرځی تیزونه اچوی اوتختی.

عَنْ سُهَيْلٍ قَالَ أَرْسَلَنِي أَبِي إِلَى بَنِي حَارِثَةَ قَالَ وَمَعِي غُلَامٌ لَنَا أَوْ صَاحِبٌ لَنَا فَنَادَاهُ مُنَادٍ مِنْ حَائِطٍ بِاسْمِهِ قَالَ وَأَشْرَفَ الَّذِي مَعِي عَلَى الْحَائِطِ فَلَمْ يَرَ شَيْئًا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِأَبِي فَقَالَ لَوْ شَعَرْتُ أَنَّكَ تَلْقَ هٰذَا لَمْ أُرْسِلْكَ وَلٰكِنْ إِذَا سَمِعْتَ صَوْتًا فَنَادِ بِالصَّلَاةِ فَإِنِّي سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا نُودِيَ بِالصَّلَاةِ وَلَّى وَلَهُ حُصَاصٌ

د سهیل بیان دے چه زۀ خپل پلار بنو حارث ته اولیږلم د تلو په وخت ځما سره یو هلک یا یو سړے هم وو. دغه رنګے د لارے په دوران چا د یو باغ د احاطے نه د هغۀ نوم واخستو او هغۀ ته ئے آواز اوکړو. او ځما ملګری اوکتل چه په باغ کښې څوک نۀ وو. ما ددے واقع نه خپل پلار خبر کړو. نو هغوی اووے کۀ چرے ماته معلومه وے چه تاسو به په دے واقعه سره مخامخ کیږئ نو ما به هیڅ کله نۀ وے لیږلی. اوس پس له دے یاد ساتئ چه کۀ چرته تاسو ددے قسم څۀ آواز واوریدو (او آواز کونکے تاسو ته ښکاره نۀ شو) نو یقین کوئ چه دغه شیطان دے نو په دغه وخت داسے آذان کوئ څنګه چه د مانځۀ دپاره کولے شی. ولے چه ابوهریره رضی الله عنه ویلی دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هر

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِينَ فَإِذَا قُضِيَ التَّأْذِينُ أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ حَتَّى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيبُ أَقْبَلَ حَتَّى يَخْطُرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ يَقُولُ لَهُ اذْكُرْ كَذَا وَاذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ مِنْ قَبْلُ حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ مَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى

کله د مانځهٔ آذان کیږی نو شیطان د هغه ځائے نه تختی غائب کیږی
د ابوهریرهؓ بیان دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه د مانځهٔ اذان کیږی. نو شیطان د هغه ځائے طرفته شا کړی او تیزونو اوچوی او تختی. دد ے دپاره چه اذان وانهٔ اوری.او د آذان نه پس بیا واپس راځی .او کله چه تکبیر اقامت نه پس بیا واپس راځی.او دخلقو په زړونو کښں وسوسے اچوی.او هغوی ته هغه خبرے رایادوی چه هغه د مانځهٔ نه مخکښں د سړی په خیال کښں هم نهٔ وی.دهغے نتیجه داراوځی چه مونځ کونکی ته یاد نهٔ وی چه هغهٔ څومره رکعتونه کړی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ إِنْ يَدْرِي كَيْفَ صَلَّى

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ د پورته حدیث پشان له اوفرمائیل.او ورسره ئے دا هم اوفرمایل چه د بنده خیال نهٔ وی چه دهٔ څنګه مونځ اوکړو (یعنی په ګډو وډو خیالاتو کښں د هغهٔ سوچ تقسیم شی)

بَابُ اسْتِحْبَابِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ حَذْوَ الْمَنْكِبَيْنِ مَعَ تَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ وَالرُّكُوعِ وَفِي الرَّفْعِ مِنَ الرُّكُوعِ وَأَنَّهُ لَا يَفْعَلُهُ إِذَا رَفَعَ مِنَ السُّجُودِ

باب : تکبیر تحریمه، د رکوع کولو په وخت ، او د رکوع نه د سر د اوچتولو په وخت د اوګو پورے د دواړه لاسونه د اوچتولو او د دواړو سجدو په مینځ کښں د لاس د نهٔ اوچتولو حکمونه

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ مَنْكِبَيْهِ وَقَبْلَ أَنْ يَرْكَعَ وَإِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ وَلَا يَرْفَعُهُمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

د عبد الله بن عمرؓ بیان دے. چه رسول اللهﷺ چه به کله مونځ کولو نو د خپلو اوګو پورے به ئے خپل دواړه لاسونه اوچتول او دغه شان رکوع له د تلو په وخت او د رکوع نه د سر اوچتولو په وخت به ئے خپل دواړه لاسونه اوچتول او د سجدو په مینځ کښں به ئے رفع یدین نهٔ کولو[1]

---

[1] امام نوويؒ ویلی دی چه د مانځهٔ په ابتداء کښں رفع یدین (د اوګو پورې دواړه لاسونه اوچتول) کولو په باره کښں د پوره اُمت اجماع ده. لیکن په نورو ځایونو کښں د هغوی په خپلو کښں اختلاف دے. د امام شافعي او امام احمد او امام مالک رحمهم الله په نز او د نورو

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ لِلصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى تَكُونَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ وَإِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ وَلَا يَفْعَلُهُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ

د ابن عمرؓ بیان دے چه رسول اللهﷺ چه به کله د مانځهٔ د پاره اودریدو نو خپل دواړه لاسونه به ئے د خپلو دواړو اوګو پورے اوچت کړل او الله اکبر به ئے اووے. او کله چه به ئے د رکوع اراده اوکړه. نو هم به ئے دغه شان کول او کله چه به ئے د سجدے نه سر اوچت کړو نو داسے به ئے نهٔ کول یعنی د سجدو په مینځ کښ به ئے رفع یدین نهٔ کوو.

عَنْ أَبِي قِلَابَةَ أَنَّهُ رَأَى مَالِكَ بْنَ الْحُوَيْرِثِ إِذَا صَلَّى كَبَّرَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَ يَدَيْهِ وَحَدَّثَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ هٰكَذَا

د ابوقلابهؒ بیان دے چه هغوی مالک بن حویرثؓ لره په مانځهٔ اولیدهٔ. هغوی د مانځهٔ کولو د پاره تکبیر اووے او رفع یدین ئے اوکړل او بیائے رکوع له د تلو په وخت رفع یدین اوکړو. او د رکوع نه د سر اوچتولو په وخت بیا رفع یدین اوکړهٔ. او بیان ئے کړے دے. چه رسول اللهﷺ به دغه شان کولو.

عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

د مالک بن حویرثؓ بیان دے. چه رسول اکرمﷺ چه به کله تکبیر

جمهورو علماؤ په نز د رکوع کولو په وخت او د رکوع نه د سر اوچتولو په وخت رفع یدین کول مستحب دی. دغسے امام شافعیؒ ویلی دی چه ره کله تشهد اووایئ او اودریږئ نو دغه وخت هم رفع یدین کوئ. ولے چه امام بخاری په حواله د عبد الله بن عمر لیکلی دی چه رسول اللهﷺ دغه شان کړی وو او ابو حمید ساعدی هم په صحیح سند نو سره دغه بیان کړے دے چه هغے لره ابوداؤد او ترمذیؒ لیکلے دے ددے نه علاوه ابوبکر بن منذر ، ابوعلی طبری رحمهم الله او د بعضے اهل حدیثو په نز د دواړو سجدو په مینځ کښ هم رفع یدین کول مستحب دی. امام ابوحنیفه او اهل کوفه او امام مالک رحمهم الله مشهور روایت دغه دے. چه د تکبیر تحریمه د وخت نه علاوه په نورو وختونو کښ رفع یدین نشته او په اجماع سره رفع یدین کول په یو وخت هم واجب نهٔ دی (او سنت نبوی ضروری دی) ددے په خلاف امام داؤد ظاهری په وخت د تکبیر تحریمه رفع یدین کولو ته واجب لیکلی دی. دغه شان د امام ابوالحسن احمد بن سیار رحمه الله قول دے چه د تکبیر تحریمه په وخت رفع یدین واجب دی.

د کوم ځائے پورے به لاس اوچتوئ:

د جمهورو علماؤ عمل او بیان دے چه دواړو لاسونو لره د دواړو اوګو پورے په دے شان سره اوچت کړے چه د ګوتو سرونه د غوږونو د پاسه حصے پورې اورسی. او غټے ګوتے د غوږونو د نرمو حصو پورے وی.

د رفع الیدین (د لاس د اوچتولو) وخت:

د رومبی روایت په وجه د تکبیر نه مخکښ دے. او د دویم روایت د مخے د تکبیر نه روستو دے. او د دریم روایت په وجه بالکل د تکبیر سره دے.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ

اووے. نو خپل دواړه لاسونه به ئے د خپلو غوږونو پورے اوچت کړل او کله چه به ئے رکوع کوله نو هم به ئے خپل دواړه لاسونه د غوږونو پورے اوچتول. او د رکوع نه د سر اوچتولو سره به ئے سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه ویلو. او داسے عمل به ئے کولو[1].

بَاب إِثْبَاتِ التَّكْبِيرِ فِي كُلِّ خَفْضٍ وَرَفْعٍ فِي الصَّلَاةِ إِلَّا رَفْعَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَيَقُولُ فِيهِ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ

باب: په مانځهٔ کښې د ټیټیدو او پورته کیدو په وخت تکبیر ویل او د رکوع نه د سر د اوچتولو نه روستو د سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه ویلو حکم

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ يُصَلِّي لَهُمْ فَيُكَبِّرُ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ وَاللهِ إِنِّي لَأَشْبَهُكُمْ صَلَاةً بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دابوسلمه بن عبدالرحمٰنؒ بیان دے چه ابوهریرهؓ چه به کله مونځ کولو نو همیشه به ئے د ښکته کیدو پورته کیدو په وخت الله اکبر ویلو. بیا هغوی د مانځهٔ د فراغت نه پس اووے. زهٔ ستاسو ټولو خلقو په نسبت زیات مشابه د رسول اللهﷺ پشان مونځ ادا کوم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرُّكُوعِ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِي سَاجِدًا ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يَفْعَلُ مِثْلَ ذَلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتَّى يَقْضِيَهَا وَيُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ مِنَ

د ابوهریرهؓ بیان دے چه رسول اکرمﷺ چه به کله د مانځهٔ کولو د پاره اودریدو نو تکبیر به ئے اوکړو. بیا به ئے د رکوع په وخت تکبیر ویلو او د رکوع نه د سر اوچتولو سره به ئے سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ویلو. او بیا به ئے دغسے په ولاړے ولاړے رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ویلو. او بیا چه به ئے کله سجده کوله نو تکبیر به ئے اووے. اوسجدے نه د سر اوچتولو په وخت به ئے هم تکبیر اووے او د مانځهٔ د ختمیدو پورے به ئے په هر ناسته ولاړه کښې تکبیر ویلو. او د دوو رکعتونو نه پس چه به ئے کله قیام کولو نو بیا به ئے الله اکبر اووے. د دے نه پس

---

[1] د امام مالک، ثوري، شافعي، او احمد، ابوحنیفه رحمهم الله او اکثرو نورو علماؤ په نزد تکبیر تحریمه واجب دے. لیکن قاضی عیاض رحمه الله په روایت د ابن مسیّب، حسن، زهري، قتاده، حکم او اوزاعي رحمهم الله دا بیان کړے دے چه تکبیر تحریمه په اصل کښې سنت دے او واجب نهٔ دے. دغه شان دلوستلو د پاره صرف (په زړهٔ کښې) نیت کول کافي دي. او د صحیح احادیثو نه د تکبیر وجوب ثابت دے (امام نووي رحمه الله)

الْمَثْنَى بَعْدَ الْجُلُوسِ ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ إِنِّي لَأَشْبَهُكُمْ صَلَاةً بِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ

ابوهریرهؓ اووے زهٔ ستاسو ټولو خلقو په نسبت کښې زیات مشابه د رسول الله ﷺ په شان مونځ ادا کوم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ أَبِي هُرَيْرَةَ إِنِّي أَشْبَهُكُمْ صَلَاةً بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابن جریجؒ د روایت په شان ابوهریرهؓ بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ چه به کله د مانځهٔ دپاره اودریدو نو د هر قیام په وخت به ئے الله اکبر ویلو په دے روایت کښې ابوهریرهؓ دا نهٔ دی ویلی چه د نورو خلقو په نسبت زهٔ د رسول الله ﷺ په شان مونځ کوم

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ حِينَ يَسْتَخْلِفُهُ مَرْوَانُ عَلَى الْمَدِينَةِ إِذَا قَامَ لِلصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ كَبَّرَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ وَفِي حَدِيثِهِ فَإِذَا قَضَاهَا وَسَلَّمَ أَقْبَلَ عَلَى أَهْلِ الْمَسْجِدِ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَشْبَهُكُمْ صَلَاةً بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابوسلمهؓ بیان دے چه مروان کله ابوهریرهؓ لره د مدینے خلیفه مقرر کړو نو هغهٔ به د فرض مانځهٔ دپاره د اودریدو په وخت تکبیر کولو بیانئے هغهٔ ته دابن جُریجؒ په شان بیان اوکړو اوپه هغے کښې ذکر دی چه ابوهریرهؓ د مانځهٔ د فراغت نه پس اووے قسم په هغه ذات چه د هغهٔ په قبضه کښې زما روح دے چه ستاسو خلقو په نسبت زما مونځ د رسول الله ﷺ د مانځهٔ سره زیات مشابه دے.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ يُكَبِّرُ فِي الصَّلَاةِ كُلَّمَا رَفَعَ وَوَضَعَ فَقُلْنَا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا هَذَا التَّكْبِيرُ قَالَ إِنَّهَا لَصَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابوسلمهؓ بیان دے چه د ښکته کیدو او پورته کیدو په وخت به ابوهریرهؓ په هر مانځهٔ کښې تکبیر کولو مونږ تپوس اوکړو دا تکبیرونه څنګه دی؟ نو هغوی جواب راکړو دا خو د رسول الله ﷺ مونځ دے (یعنی رحمت، دو عالم به په دے شان مونځ کولو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ وَيُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ

دابوهریرهؓ بیان دے چه هغه به کله په مانځهٔ کښې ښکته کیدو یا پورته کیدو نو الله اکبر به ئے ویلو او بیان ئے کوو چه رسول اکرم ﷺ به دغه شان کولو.

عَنْ مُطَرِّفٍ قَالَ صَلَّيْتُ أَنَا وَعِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ خَلْفَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ فَكَانَ إِذَا سَجَدَ كَبَّرَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ كَبَّرَ وَإِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ فَلَمَّا انْصَرَفْنَا مِنَ الصَّلَاةِ قَالَ

د مطرّفؒ بیان دے چه ما او عمران ابن حصینؓ په حضرت علیؓ پسے مونځ اوکړو . هر کله چه به هغه سجدے کولے نو تکبیر به ئے ویلو او کله چه به ئے سر اوچتولو نو تکبیر به ئے کولو او کله چه به د دوو رکعتو نه پس اودریدو نو تکبیر به ئے لوستلو. حاصل دا چه هر کله

أَخَذَ عِمْرَانُ بِيَدِي ثُمَّ قَالَ لَقَدْ صَلَّى بِنَا هٰذَا صَلَاةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ قَدْ ذَكَّرَنِي هٰذَا صَلَاةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مونږ د ماخځه نه فارغ شو نو حضرت عمران خما لاس اونیوو. او بیانئے اووے چه د رسول الله ﷺ پشان دهٔ مونځ اوکړو. یا نے داسے اووے چه دوی ماته د رسول الله ﷺ مونځ را یاد کړو.[1]

بَاب وُجُوبِ قِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ وَ إِنَّهُ إِذَا لَمْ يُحْسِنِ الْفَاتِحَةَ وَ لَا أَمْكَنَهُ تَعَلُّمَهَا قَرَأَ مَا تَيَسَّرَ لَهُ مِنْ غَيْرِهَا

باب: په هر رکعت کښې سورهٔ فاتحه ویل واجب دی. کهٔ فاتحه نهٔ درځی او نهٔ په دغه وخت ایزده کولے شی نو ترڅو پورے چه دهٔ له څهٔ ورځی نو هغه د وائی. (لیکن ورسره ورسره د هغے د ایزدکولو کوشش ضروری دے)

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

د عباده بن صامت بیان دے چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی چه څوک سورهٔ فاتحه اونهٔ وائی نو د هغهٔ مونځ نهٔ کیږی.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْتَرِئْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ

عباده بن صامت د رسول الله ﷺ دا حکم بیان کړو چه چا اُمُّ القران یعنی سورهٔ فاتحه اونهٔ لوسته نو د هغهٔ مونځ نهٔ کیږی.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَزَادَ فَصَاعِدًا

د عباده بن صامت نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چا چه اُمُّ القران یعنی سورة فاتحه اونهٔ لوستله د هغهٔ مونځ اونهٔ شو. او معمر دومره زیاته بیان کړه پس زائد.[2]

---

[1] په هر رکعت کښې تکبیر ویل پکار دی البته د رکوع نه پس د قیام کولو په وخت به سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه وائی او په دے باندے د تولو پخوانو او موجوده علماؤ اتفاق دے. د رسول الله ﷺ دد ے فعل خلقو ته د اطلاع یعنی خبرد نهٔ میلاویدو په وجه سره حضرت ابوهریره اووے چه ستاسو د تولو په نسبت خما مونځ د رسول الله ﷺ د مونځ سره زیات مشابه دے. ښکاره خبره ده چه په هر دوه رکعته والا مونځ کښې یولس تکبیرونه دی. یو خو تکبیر تحریمه دے. او باقی په هر رکعت کښې پنځهٔ پنځهٔ تکبیرونه دی. دغه شان په دریوؤ رکعتونو کښې اولس او په څلورو رکعتونو کښې دویشت او په پنځو مونځونو کښې شپږ کم سل تکبیرونه ویل پکار دی. چه په دے تولو کښې تکبیر تحریمه واجب دے او باقی تکبیرونه واجب نهٔ دی. البته په یو روایت کښې امام احمد بن حنبل ویلی دی چه تول تکبیرونه واجب دی (نووی)

[2] امام نووی ویلی دی چه دد ے احادیثو نه د سورة فاتحے په مانځهٔ کښې لوستل واجب ثابت شوی دی. د امام مالک او امام شافعی رحمهما الله مسلک دادے چه څوک په مانځهٔ کښې سورة فاتحه په آسانه سره لوستے شی. هغهٔ لره د هغے لوستل ضروری دی. او امام ابوحنیفه ویلی دی چه د قران کریم یو آیت لوستل فرض دی. چه هغه دد ے احادیث نه خلاف دے. حضرت امام ابوحنیفه د قران آیت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ ثَلَاثًا غَيْرُ تَمَامٍ فَقِيلَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ إِنَّا نَكُونُ وَرَاءَ الْإِمَامِ فَقَالَ اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللهُ تَعَالَى قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ قَالَ اللهُ تَعَالَى حَمِدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ قَالَ اللهُ تَعَالَى أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي وَإِذَا قَالَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ قَالَ

د ابوهریرهؓ بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چا چه په مانځه کښې سورة فاتحه او نه لوستله نو د هغهٔ مونځ پوره نهٔ شو بلکه دهغهٔ مونځ ناقص پاتے شو خلقو تپوس اوکړو چه هر کله مونږ په امام پسے ولاړ یو نو څهٔ به کوو؟ ابوهریرهؓ په جواب کښې اووے دغه وخت تاسو خلق رو رو سورة فاتحه لولئ؛ ولے چه ما د رسول الله ﷺ نه د الله دا فرمان بیانول اوریدلی دی چه مونځ خما او خما د بنده په مینځ کښې نیم نیم تقسیم شوے دے او خما بنده چه څهٔ سوال کوی هغه پوره کولے شی. هر کله چه یو بنده · اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ · اووائی. نو رب ذوالجلال اوفرمائی چه خما بنده خما تعریف اوکړو او مونځ کونکے چه کله الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اووائی نو الله تعالی اوفرمائی چه خما بنده خما صفت اوکړو. او مونځ کونکے چه کله· مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ· اووائی. نو الله عزوجل فرمائی چه خما بنده

فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ (مزمل) پیش نظر مطلق د قرآن قرات فرض گرخولے دے او د ذکر کړی شوی احادیث پیش نظر سورهٔ فاتحه لره د امام او د خانله مونخ کونکی دپاره واجب وانی. او مقتدی چونکه د امام تابع دے ددے وجے نه د امام قرأت د مقتدی دپاره کافی دے. ددے ارشاد نبوی پیش نظر : مَنْ صَلّٰى خَلْفَ الْإِمَامِ فَإِنَّ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ (مؤطا امام محمد)، امام شافعیؒ دے احادیثو لره دلیل نیولے ویلی دی چه امام او مقتدی دواړو لره سورهٔ فاتحه لوستل واجب دی. او منفرد یعنی خانله مونخ کونکی لره هم سوره فاتحه (یعنی الحمدُ شریف) لوستل واجب دی .لکه چه ابوهریره ویلی دی. چه هر مونخ کونکی لره سورة فاتحه لوستل واجب دی او هغه به دومره رو رو وانی چه پخپله نے اوری. او بعضے د مالکی مسلک علماؤ ویلی دی چه صرف په زړهٔ کښې لوستل پوره دی لیکن دا صحیح نهٔ دی. ولے چه سورة فاتحے لوستل ضروری دی. او یو څیز هغه وخت لوستونکے شی هر کله چه ژبه حرکت کوی. او د لوستو کم نه کم معیار دادے چه لوستونکے پخپله واوری. او څوک چه د ژبے خوزولو نه بغیر صرف په زړهٔ کښې وانی نو دا قرات نهٔ شی کیدے. حالانکه د سورة فاتحے قرأت واجب دے. قاضی عیاض یو روایت د حضرت علی . د ربیعه او محمد بن ابی صفره د اصحابِ مالک زبانی چه کوم بیان کړے دے. چه قرأت بالکل واجب نهٔ دے. دا صرف شاذ او غیر مرفوع روایت دے. دعلامه ثوری، اوزاعی او امام ابوحنیفه رحمهم الله دا قول دے چه په آخری دوو رکعتونو کښې قرأت واجب نهٔ دے. بلکه مونځ کونکی ته اختیار دے خواه کهٔ لولی خواه کهٔ غلے پاتے کیږی او خواه کهٔ سبحان الله سبحان الله وانی. لیکن صحیح مذهب چه په هغے باندے د تولو سلفو او خلفو اجماع ده دغه دے چه هر مونخ کونکی لره په هر رکعت کښې سورة فاتحه لوستل واجب دی لکه چه یو باندیچی ته رسول الله ﷺ اوفرمایل چه په هر رکعت کښې سورة فاتحه لوله.

مَجَّدَنِي عَبْدِي وَقَالَ مَرَّةً فَوَّضَ إِلَيَّ عَبْدِي فَإِذَا قَالَ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ قَالَ هٰذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ قَالَ هٰذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ قَالَ سُفْيَانُ حَدَّثَنِي بِهِ الْعَلَاءُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَعْقُوبَ دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ مَرِيضٌ فِي بَيْتِهِ فَسَأَلْتُهُ أَنَا عَنْهُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِيَ خِدَاجٌ يَقُولُهَا ثَلَاثًا بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

خما لوئي بیان کړه. او دا هم اووائی چه خما بنده خپل تول کارونه ماته اوسپارل او مونځ کونکے چه کله · إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ · اووائی نو الله عزوجل اوفرمائی . دا خما او خما د بنده په مینځ کښ معامله ده. خما بنده چه څۀ سوال کوی هغه به ورته میلاویږی. بیا چه مونځ کونکے په خپل مانځۀ کښ · اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ · اووائی. نو الله تعالی جواب ورکړی چه دا تول خما دد ے بنده دپاره دی. اود ے چه څۀ غواړی هغه به ورته ورکولے شی. سفیان وائی خما په تپوس باند ے دا حدیث ماته علاء بن عبد الرّحمٰن بن یعقوب هغه وخت بیان کړو کله چه هغه بیمار وو. او زۀ د هغۀ د بیمارئ تپوس دپاره د هغوی کورته تلے وم [1].

د ابوهریرهؓ بیان د ے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. چا چه په مانځۀ کښ سورۃِ فاتحه اونۀ لوسته نو د هغۀ مونځ مکمل نۀ د ے. حضرت نبی کریمﷺ دا جمله در ے ځله ارشاد اوفرمایله

ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ دا ارشاد بیان کړ ے د ے. چه بغیر قراءت نه

---

[1] . دد ے حدیث شریف نه هم ثابتیږی. چه هر مونځ کونکی ته د مانځۀ په هر رکعت کښ سورۃ فاتحه لوستل فرض دی. ولے چه سورۃ فاتحه د مانځۀ هغه لوئے جُز د ے. چه د هغے نه بغیر مونځ نۀ کیږی. او د نیم نیم تقسیم کیدو معنی داده. چه په نیم سورۃِ فاتحه کښ د الله تعالی تعریف او تحمید د ے. او په نیم کښ هغه دُعا ده. چه د هغے فائد ے مونځ کونکی ته میلاویږی. کوم خلق چه بسم الله الخ لره سورۃ فاتحے نه جُدا خیال کوی. هغه دد ے حدیث نه استدلال کوی اووائی چه کۀ چر ے بسم الله الخ په د ے سورۃ کښ داخله و ے . نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغے لره هم بیان کړ ے و ے.او کوم خلق چه بسم الله الخ لره په سورۃِ فاتحے کښ داخل او شامل وائی هغوی هم په د ے حدیث سره دا دلیل پیش کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خصوصیات بیان فرمایلی دی. کوم چه د سورۃِ فاتحے سره مخصوص دی. (مختصراً د امام نووی رحمه الله نه)

چونکه سورۃ فاتحه په اصل کښ د قران کریم خلاصه ده. او د لوستو رحمتِ عالم حکم کړ ے د ے دد ے وجے نه په هر رکعت کښ دا وایئ (از مترجم اردو کتاب).لیکن مقتدی دِ د امام د اقتداء په وجه خاموش وی د انس رضی الله عنه د حدیث په وجه وَإِذَا قَرَأَ الْإِمَامُ فَأَنْصِتُوا کله چه امام قرات کوی تۀ چُپ اوسه (کتاب القراءة للبیهقی ص ۱۱۳)از مصحح

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا صَلَاةَ إِلَّا بِقِرَاءَةٍ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَمَا أَعْلَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلَنَّاهُ لَكُمْ وَمَا أَخْفَاهُ أَخْفَيْنَاهُ لَكُمْ

مونځ صحيح کيدے نۀ شي. ددے نه پس ابوهريرهؓ اووے چه رسول اکرمﷺ چه کوم مونځ په اوچت آواز سره لوستے دے هغه مونږه هم په اوچت آواز سره لولو. او کوم مونځ چه هغه په پټه سره لوستے دے هغه مونږه هم په پټه سره ادا کوو.

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فِي كُلِّ الصَّلَاةِ يَقْرَأُ فَمَا أَسْمَعَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْمَعْنَاكُمْ وَمَا أَخْفَى مِنَّا أَخْفَيْنَا مِنْكُمْ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ إِنْ لَمْ أَزِدْ عَلَى أُمِّ الْقُرْآنِ فَقَالَ إِنْ زِدْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ خَيْرٌ وَإِنِ انْتَهَيْتَ إِلَيْهَا أَجْزَأَتْ عَنْكَ

عطاءؒ د ابوهريرهؓ قول بيان کړے دے چه د مانځۀ په هر رکعت کښې قراءت کول پکار دی رسول اللهﷺ چه په کوم مونځ کښې مونږ ته قراءت اورولے دے. هغه شان مونږه تاسو ته واوره وو. او په کوم مانځۀ کښې چه رسول اکرمﷺ غير جهري قراءت لوستے دے. دغه شان مونږ هم اولوستو او تاسو ته مو اونښودو. په دے باندے يو سړي اووے کۀ چرے زۀ د سورة فاتحے نه علاوه نور څۀ نۀ وايم نو څۀ حرج شته؟ ابوهريرهؓ جواب ورکړه د سورة فاتحے نه پس د قران کريم بل آيت لوله نو دا ستا د پاره غوره ده. او کۀ چرے صرف سورة الحمد اولولے نو هم پوره ده [1].

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فِي كُلِّ صَلَاةٍ قِرَاءَةٌ فَمَا أَسْمَعَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْمَعْنَاكُمْ وَمَا أَخْفَى

عطاءؒ د ابوهريرهؓ قول بيان کړے دے چه په هر مانځۀ کښې قراءت دے. او په کوم مانځۀ کښې چه رسول اکرم په اوچت آواز سره قراءت کړے او مونږ ته ئے د هغے تعليم راکړے دے. دغه شان مونږ تاسو ته واوره وو.

---

[1] ددے حديث شريف نه هم ثابته ده چه سورة فاتحه لوستل واجب دی او په دے باندے اجماع ده چه ورسره د يو بل سورة يو جائے کول مستحب دی د سحر او جمعے او په نورو مونځونو کښې د سورة فاتحے سره د بل سورة يو ځائے کول د ټولو علماؤ په نزد سنت دی قاضي عياض رحمه الله د بعضے مالکی رحمه الله سرو دا قول بيان کړے دے چه د سورة فاتحے نه پس د بل سورة لوستل واجب دی حالانکه دا قول شاذ او مردود دے البته په دريم او څلورم رکعت کښې د سورة فاتحے نه پس د قرآن کريم څۀ سورة يا آيت لوستل مستحب دی يا غير مستحب؟ په دے باره کښې د علماؤ په خپلو کښې اختلاف دے. امام مالک رحمه الله د سورة ملاوولو ته مکروه ويلی دی. امام شافعیؒ په خپل آخری بيان کښې دا مستحب قرار کړی. او د هغۀ قديم او ابتدائی بيان دغه دے چه سورة ميلاوول غير مستحب دی. د بعضے نورو امامانو بيان دے کۀ غواړی سورة به ميلاووی يا به صرف تسبيح وائی. مونځ کونکی لره اختيار دے. دا قول ضعيف دے. د جمهورو متفقه بيان دے چه د جنازے په مونځ کښې به د سورة فاتحے سره آمين اووائی البته په نفلی مونځونو کښې سورة ميلاوول مستحب دی. او حقيقت دادے چه د سورة فاتحی نه پس څۀ بل سورة يا آيت لوستل مستحب دی او د هغے د پريخودو سره سجده سهوه نۀ لازميږی (مختصراً از امام نووی رحمه الله). د احنافو په نزد د سورة فاتحے سره يو سورة يوځائے کول واجب دی او د هغے په پريخودو سجده سهوه لازميږی.

مِنَّا أَخْفَيْنَاهُ مِنْكُمْ وَمَنْ قَرَأَ بِأُمِّ الْكِتَابِ فَقَدْ أَجْزَأَتْ عَنْهُ وَمَنْ زَادَ فَهُوَ أَفْضَلُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامَ قَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَرَجَعَ الرَّجُلُ فَصَلَّى كَمَا كَانَ صَلَّى ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ ثُمَّ قَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ حَتَّى فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ الرَّجُلُ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَ هٰذَا عَلِّمْنِي قَالَ إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ثُمَّ افْعَلْ ذٰلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَاحِيَةٍ وَسَاقَا الْحَدِيثَ بِمِثْلِ هٰذِهِ

اوکوم مونځ چه هغه په پټه سره ادا فرمایلی دے. دغه شان مونږ تاسو ته ادا کړے اوښودلو. چا چه سورة فاتحه اولوسته د هغهٔ مونځ پوره شو. او چا چه په هغے باندے څهٔ سورة یا آیت زیات کړو غوره ده.

د ابوهریرهؓ بیان دے. چه رسول اللهﷺ په جماعت کښې تشریف فرما وو. ه دے کښې یو سړے راغے. هغهٔ د مونځ د کولو نه پس هغهٔ ته سلام اوکړو. هغهٔ د سلام جواب ورکړو. او ورته ئے اوفرمائیل. ځه مونځ اوکړه تا مونځ نهٔ دے کړے. هغه واپس شو او د مخکښنی پشان ئے بیا مونځ اوکړو. او واپس راغے هغهٔ ته ئے سلام اوکړو. هغهٔ ورته وعلیکم السلام اووے او ورته ئے اووے لاړ شه مونځ اوکړه. تا مونځ ادا کړے نهٔ دے. دغه رنګے جغهٔ به په هغه شان هغه مونځ کولو او واپس به راتلو. هغهٔ ته به ئے سلام کوو. او هغهٔ به دغه فرمایل. چه لاړ شه مونځ اوکړه تا مونځ نهٔ دے کړے. آخر هغه سړی عرض اوکړو. یا رسول اللهؐ قسم دے په هغه ذات چا چه تا لره رسول برحق جوړ کړے دے. زهٔ د دے نه علاوه د زیاتے ښے طریقے نه خبر نهٔ یم. مهربانی اوکړه تهٔ ئے ماته اوښایه؟ ارشاد اوشو. چه تهٔ کله د مانځهٔ دپاره اودریږے نو اول الله اکبر اووایه او بیا چه څومره قرآن کریم ته په اسانئ سره لوستے شے هغه اولوله. بیا د هغے نه پس رکوع اوکړه. او بیا په آرام بالکل نیغ اودریږه. او د هغے نه پس په آرام سره سجده اوکړه او بیا په اطمینان سره په قاعده کینه او په دے شان په خپل ټول مانځهٔ کښې کوه.

د ابوهریرهؓ بیان دے چه یو سړے جماعت ته داخل شو. او مونځ ئے اوکړو. او رسول اکرمﷺ د جماعت په یو ګوټ کښې تشریف فرما وو. د دے نه روستو ئے پورته ذکر کړے شوے پوره حدیث بیان کړو او د

الْقِصَّةِ وَزَادَا فِيهِ إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ

هغے په آخر کښ اوفرمايل. کله چه تاسو مانځه ته اودریږئ نو په ښه شان اودس اوکړه. بيا مخ په قبله اودريږه او د هغے نه پس تکبير وايه[1].

بَاب نَهْيِ الْمَأْمُومِ عَنْ جَهْرِهِ بِالْقِرَاءَةِ خَلْفَ إِمَامِهِ

باب: مقتدی لره د امام نه روستو په اوچت آواز د قرآن شريف د لوستو نه منع

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الظُّهْرِ أَوِ الْعَصْرِ فَقَالَ أَيُّكُمْ قَرَأَ خَلْفِي بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى فَقَالَ رَجُلٌ أَنَا وَلَمْ أُرِدْ بِهَا إِلَّا الْخَيْرَ قَالَ قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ بَعْضَكُمْ خَالَجَنِيهَا

د عمران بن حصين رضی الله عنه بيان دے چه رسول الله ﷺ مونږ لره د ماسپخين يا د مازيګر مونځ اوکړو. د ختميدو نه پس هغهٔ اوفرمايل. په تاسو کښ کوم مقتدی سورة سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى اولوستو؟ نو يو مقتدی عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! په عرض د حصول ثواب ما لوستلے وو. په دے باندے حضرت ﷺ اوفرمايل. ما ته معلومه شوه چه ستاسو نه څوک څما نه قرآن کريم په زور اخلی[2].

بَاب حُجَّةِ مَنْ قَالَ لَا يُجْهَرُ بِالْبَسْمَلَةِ

باب: بِسْمِ اللهِ په زوره سره د نهٔ لوستو دليل

عَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ

د انس رضی الله عنه بيان دے. چه ما د رسول اکرم ﷺ او حضرت صديق اکبر رضی الله عنه او فاروق اعظم رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه سره مونځ اوکړو ليکن په هغوی

---

[1] په دمه دمه ارام سره د ټول مونځ ارکان ادا کوئ. دے ته تعديل ارکان ويلی کيږی. کوم چه د ټولو علماؤ په نزد فرض دی. او دغے حديث لره د تعديل ارکان دپاره جمهور علماؤ دليل او ثبوت پيش کوی. او امام ابوحنيفه رحمه الله دے ته واجب ويلی دی. (امام نووی رحمه الله)

[2] ددے حديث نه صفا معلوميږی. چه د امام نه روستو مقتدی لره په اوچت آواز د قرآن کريم د لوستلو ممانعت دے. لکه چه رسول الله ﷺ خپل شاته مقتدی لره په اوچت آواز د قرآن لوستلو نه منع کړو. واقعه داده. چه څهٔ خلقو به په سرّی مونځ يعنی ماسپخين او مازيګر کښ هم د امام نه روستو په حيثيت د مقتدی د اَلْحَمْدُ نه پس څهٔ بل سورة لوستل کولو. چه د هغے په باره کښ رحمت عالم صلی الله عليه وسلم منع اوفرمايله. چه تاسو په اوچت آواز مه لولئ. البته يو شاذ او ضعيف قول داد ے چه مقتدی په سرّی مانځهٔ کښ هم د جهری مانځهٔ په شان څهٔ سورة نهٔ لولی. او دا خيال بالکل غلط دے. ولے چه په جهری مانځهٔ کښ مقتدی لره د بالکل خاموشه کيدو او صرف د اوريدو حکم دے. او په سرّی مانځهٔ کښ د سورة د لوستو تاکيد دے. په سرّی مونځ کښ د مقتدی دپاره د سورت لوستلو تاکيد منقول نهٔ دے بلکه ددے مخالف روايت موجود دے. چه کوم سړے د امام نه روستو مونځ کوی نو د امام قرأت د مقتدی دپاره هم محسوب وی. د حوالے دپاره اوګورئ حاشيه په صفحه ٧١٠. ددے نه علاوه کهٔ چرے په جهری مانځهٔ کښ مقتدی د خپل امام نه په دومره قدرے فاصله باندے وی چه هغه د امام قرأت نهٔ شی اوريدے. نو دغه مقتدی له پکار دی. چه هغه د خاموش نهٔ وی بلکه د اَلْحَمْدُ سره د بل څهٔ سورة يا د قرآن و ايت تلاوت کړی. او دغه مسلک بالکل صحيح دے (شافعی رحمه الله)

فَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا مِنْهُمْ يَقْرَأُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

کښې م د يو نه هم په مانځۀ کښې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ (په زوره سره) لوستل وانۀ اوريدل[1].

عَنْ شُعْبَةَ فِي هٰذَا الإِسْنَادِ وَزَادَ قَالَ شُعْبَةُ فَقُلْتُ لِقَتَادَةَ أَسَمِعْتَهُ مِنْ أَنَسٍ قَالَ نَعَمْ وَنَحْنُ سَأَلْنَاهُ عَنْهُ

شعبهؒ ددغے اسناد سره روايت کړے دے. چه ما د قتادهؒ نه تپوس اوکړو. آيا تا پخپله دا حديث د حضرت انسؓ د ژبے نه اوريدلے دے؟ هغوی جواب راکړو آو! مونږ ددے مسئلے تپوس د هغوی نه کړے وو. نو هغوی دا حديث اورولے وو[2].

عَنْ عَبْدَةَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ يَجْهَرُ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ يَقُولُ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ تَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ وَعَنْ قَتَادَةَ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَيْهِ يُخْبِرُهُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ حَدَّثَهُ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ فَكَانُوا يَسْتَفْتِحُونَ بِا الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا يَذْكُرُونَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ فِي أَوَّلِ قِرَاءَةٍ وَلَا فِي آخِرِهَا

عبده بيان کړے دے چه حضرت فاروق اعظمؓ به د ثنا دعا يعنی دا لاندينی کلمات په اوچت آواز سره لوستلو سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ تَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ. او ورسره د قتادهؒ بيان دے چه حضرت انسؓ ويلی دی چه ما د رسول اکرم ﷺ او حضرت صديق اکبرؓ او حضرت فاروق اعظمؓ او حضرت عثمانؓ پسے مونځ لوستے دے. دے حضراتو کرامو به د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ نه قراءت شروع کولو. او د سورة فاتحے نه مخکښې يا روستو به ئے بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ (په اوچت آواز) سره نۀ لوستلو.

بَاب حُجَّةِ مَنْ قَالَ الْبَسْمَلَةُ آيَةٌ مِنْ أَوَّلِ كُلِّ سُورَةٍ سِوَى بَرَاءَةٌ

باب: د سورهٔ براءَت (توبه) نه علاوه بسم الله الخ لره د هر سورت د جز د ويونکو دليل

[1] يعنی رحمت عالم صلى الله عليه وسلم او خلفائے راشدينو به بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ پټ اولوستو او د سورة اَلْحَمْد نه به ئے قراءت شروع کوو. د امام شافعی رحمه الله او جمهور سلفو دا قول دے. چه بسم الله الخ په اصل کښې د سورة فاتحے جز دے. ددے دپاره چه هر کله سورة فاتحه په اوچت آواز سره اولوستے شی. نو بسم الله لره هم په اوچت آواز سره لوستل پکار دی. (نووی). دا قول د زير نظر روايت بالکل مخالف دے فَانْظُرْ مَنْ يُرَجِّحِ الْقِيَاسَ عَلَى الْخَبَرِ. عارف)

[2] ددے حديث نه هغه شُبه هم دفع شوله. چه کيدے شی دا حديث د انس رضی الله عنه نه قتاده رحمه الله پخپله اوريدلے نۀ وی بلکه صرف د انس حواله ئے ورکړے وی. شبه ددے دپاره کيدلے شی چه د قتاده رحمه الله عادت دتدليس دے گنی نو دهر سری په باره کښې داشبه هيڅ کله نه شی پيدا کيدے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ بَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ بَيْنَ أَظْهُرِنَا إِذْ أَغْفَى إِغْفَاءَةً ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُتَبَسِّمًا فَقُلْنَا مَا أَضْحَكَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ فَقَرَأَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ثُمَّ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ فَقُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيرٌ هُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُومِ فَيُخْتَلَجُ الْعَبْدُ مِنْهُمْ فَأَقُولُ رَبِّ إِنَّهُ مِنْ أُمَّتِي فَيَقُولُ مَا تَدْرِي مَا أَحْدَثَتْ بَعْدَكَ زَادَ ابْنُ حُجْرٍ فِي حَدِيثِهِ بَيْنَ أَظْهُرِنَا فِي الْمَسْجِدِ وَقَالَ مَا أَحْدَثَ بَعْدَكَ

د انس بن مالک ؓ بیان دے. چه یوه ورخ مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې ناست وو. چه په هغهٔ باندے څهٔ پرکالی شان طاری شو. بیا هغهٔ په خنده رویئ سره سَر اوچت کړو. چه په هغې باندے مونږ عرض اوکړو یارسول الله! تاله په څهٔ شی باندے خندا درخی؟ ارشاد اوشو چه په ما باندے اوس اوس د قران پاک یو سورة نازل شو. دغه رنګے هغهٔ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اولوستو او د إِنَّآ أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ پوره سورة ئے اولوستو او وئے فرمایل تاسو پیژنئ چه کوثر څهٔ شے دے؟ مونږه اووے الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهه دی. نو ارشاد اوشو چه کوثر یو نهر دے چه د هغې پروردګار خما سره وعده کړے ده چه په هغې کښې ډیرے خوبیانے دی. او د قیامت په ورخ به خما اُمتیان د هغه حوض د اوبو څکلو دپاره راخی. په دغه حوض باندے دومره ګلاسونه دی لکه د آسمان ستوری. یو سړے به د هغه خائے نه اوزغلولے شی. چه په هغهٔ باندے به زهٔ اووایم اے الله! دا سړے خو خما اُمتی دے. الله تعالی به اوفرمائی نهٔ دے دا ستا اُمتی نهٔ دے. بلکه دا د هغه خلقو نه دے. چا چه ستا نه پس نوے کار راویستلے او بدعت ئے کړے دے. ابن حجر په دے کښې دا اضافه کړے ده. چه رسول الله ﷺ زمونږ خلقو سره په جماعت کښې تشریف فرما وو او الله به ورته اووے چه دا هغه سړے دے. چه دهٔ ستا نه پس بدعتونه راویستلی دی[1]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ أَغْفَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِغْفَاءَةً بِنَحْوِ حَدِيثِ ابْنِ مُسْهِرٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ فِي الْجَنَّةِ عَلَيْهِ

انس بن مالک ؓ په دے روایت کښې د ابن مُسهر پشان بیان کړے دے. چه په رسول الله ﷺ باندے ناخبری شان راغله. په دے روایت کښې د حوض کوثر ګلاسونه د ستورو په شان کیدل لیکلی نهٔ دی

[1] د دے حدیث نه ظاهره ده چه بسم الله الخ د سورة کوثر جزء دے او په دے شان د هر سورت په اول کښې داخله ده. ورسره دا هم ثابته شوه. چه په جماعت کښې اودهٔ کیدل صحیح دی. او تابعدار لره د خپل آقا نه د خندا د سبب تپوس کول هم جائز دی (امام نووی رحمه الله)

حَوْضٌ وَلَمْ يَذْكُرْ آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُومِ

بلکه دومره لیکلی دی چه کوثر یو بهترین نهر دے. چه د هغے د عطیے څما سره څما پروردګار وعده کړے ده. چه د جنت دا حوض کوثر تا ته درکړے شوے دے.

بَاب وَضْعِ يَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى بَعْدَ تَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ تَحْتَ صَدْرِهِ فَوْقَ سُرَّتِهِ وَوَضْعُهُمَا فِي السُّجُودِ عَلَى الْأَرْضِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ

باب : د تکبیرِ تحریمه نه پس ښئ لاس په ګس لاس د سینے نه لاندے او د نوم د پاسه د تړلو او په سجدو کښ د دواړو اوګو برابر د لاس ایخودلو بیان

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِينَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَصَفَ هَمَّامٌ حِيَالَ أُذُنَيْهِ ثُمَّ الْتَحَفَ بِثَوْبِهِ ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ أَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنَ الثَّوْبِ ثُمَّ رَفَعَهُمَا ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ فَلَمَّا قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمَّا سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ

د وائل بن حجر بیان دے چه هغوی رسول الله ﷺ لره په دے طور اولیدو. چه هغهٔ د مونځ شروع کولو په وخت خپل دواړه لاسونه اوچت کړل او الله اکبر ئے اووے. د دے حدیث د راوی همّام بیان دے. چه رسول اکرم ﷺ خپل دواړه لاسونه د غوږونو پورے اوچت کړل بیائے څادر په سر کړو. د هغے نه پس ئے خپل ښی لاس په ګس لاس باندے کینبودو. بیا هغهٔ د څادر نه دواړه لاسونه بهر کړل او د دواړو غوږونو پورے ئے اوچت کړل او تکبیر ئے اووے. د هغے نه پس رکوع له لاړو. او په حالت د قیام کښ ئے سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اووے او رفع یدین ئے اوکړهٔ. او بیا هغهٔ د دواړو ورغوو په مینځ کښ سجده اوکړه[1].

---

[1] د دے حدیث شریف نه هم ثابته شوه چه د مانځهٔ په شروع کښ او د رکوع کولو په وخت او د رکوع نه د سر اوچتولو نه پس رفع یدین کول پکار دی. او د تکبیر تحریمه نه پس ښئ لاس په ګس لاس باندے د نوم د پاسه او د سینے د لاندے به کیږ دی. او د سجدی کولو په وخت خپلو دواړو ورغوو لره د اوګو په برابر په زمکه باندے به کیږدی. دا قول د جمهور علماؤ او د محدثینو دے چه دے لره اهل حدیثو اختیار کړے دے. امام ابوحنیفه ، سفیان ثوری، ابواسحٰق بن راهویه ، او د ابو اسحٰق مروزی رحمهم الله روایات چه دار قطني او بیهقي په حواله د حضرت علی رضی الله لیکلی دی. هغه په اتفاق د جمهور علماؤ تول نه تول ضعیف دی. د رفع الیدین روایاتو لره ضعیف ګرځول د اردو کتاب د مترجم صاحب ذاتی رائے ده ورنه د احنافو سره بحمد الله په پریخودو د رفع الیدین ډیر مضبوط روایات موجود دی. د تفصیل دپاره د مولانا سرفراز خان صفدر او مولانا امین صفدر اوکاړوی رحمهما الله تصنیفونه اوګورئ. (عارف) ، د امام احمد ، اوزاعي او د ابن منذر رحمهم الله بیان کړے دے. چه مونځ کونکی لره اختیار دے که غواړی په سینه د لاس کیږدی.

بَاب التَّشَهُّدِ فِي الصَّلَاةِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا نَقُولُ فِي الصَّلَاةِ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامُ عَلَى اللهِ السَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ إِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ فَإِذَا قَعَدَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَقُلْ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ فَإِذَا قَالَهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلّٰهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ

باب: په مانځهٔ کښ د تشهُد د لوستو حکم

د عبد الله بن مسعودؓ بیان دے. چه د مانځهٔ په کولو کښ د رسول الله ﷺ سره به مونږ خلقو داسے ویل. سلام دے په الله باندے سلام دے په فلانی سړی باندے. دغه رنګے یوه ورځ رسول اکرم ﷺ اوفرمایل. د الله تعالی جل شانه نوم سلام دے. او هغه د ټولو بلو نه سالم او پاک او صفا دے. ددے وجے نه تاسو په تشهد کښ دا کلمات لولئ. اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ "سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ فَإِذَا قَالَهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلّٰهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ددے نه پس د مونځ کونکی زړهٔ چه کومه دُعا غواړی هغه دُعا د اوکړی. ولے چه ددے کلماتو د ادا کولو نه هر نیک بنده ته کهٔ هغه په زمکه کښېوی یا په آسمان کښ وی سلام رسیږی[1].

کهٔ نه غواړی نه د ایږدی. او دغه قول د مالکیه حضرات په نزد باندے مشهور او رواج یافته دے. ورسره هغوی دا هم ویلی دی چه په نفلو کښ به لاسونه کیږدی. او په فرض مونځونو کښ به لاسونه پریخودی وی. او د لیث بن سعد هم دغه قول دے. علاوه ددے نه جمهور علماؤ او اهل حدیثو د وائل په حجر ، سهل بن سعد ، هلب طائی رضی الله عنهم روایاتو لره ترجیح ورکړے ده. لو اختیار کړے نے دے. لکه چه امام بخاری او ترمذی رحمهما الله لیکلی دی چه رسول الله ﷺ به په مونځ لوستلو کښ په سینه باندے لاسونه تړل (مختصراً نووی)

[1] په درے قسمه تشهُد په احادیثو کښ بیان کړے شوے دے. او په اتفاق د علماؤ د هر یو لوستل صحیح دی. د امام شافعی رحمه الله او بعضے مالکی حضراتو په نزد د عبد الله بن عباس رضی الله عنه بیان کړے تشهد غوره دے. ولے چه په دے کښ د مبارکات لفظ دے. چه د قران کریم د ایت تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً عین موافق دے. او د ابن عباس رضی الله عنه بیان دے. رسول اکرم ﷺ مونږ ته تشهد په داسے شان ښودلے دے. په کوم شان چه نے راته د قران کریم سورتونه او ایتونه ښودلی دی. او دا تشهد د امام ابوحنیفه ، امام احمد او د جمهور فقهاء او اهل حدیثو په نزد هم غوره دے. ولے چه په صحت تامه روایت کړے شوے دے. امام مالک رحمه الله د حضرت عمر بیان کړے تشهد لره کوم چه هغه د صحابو په موجودګئ کښ په سر د منبر ښودلے دے او چا په هغے باندے اعتراض نه دے کړے. افضل ګرخولے دے. چه د هغے الفاظ دادی: اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ الزَّاكِيَاتُ لِلّٰهِ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوٰتُ لِلّٰهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ د اخره پورے. ددے نه علاوه امام شافعی تشهد ابن عباس رضی الله عنه ته سنت او تشهد ابن عمر ته واجب ویلی دی. امام

عَنْ مَنْصُورٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيثِهِمَا وَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ ثُمَّ لْيَتَخَيَّرْ بَعْدُ مِنَ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ أَوْ مَا أَحَبَّ

د منصور نه په دغه سند سره ددے دواړو حديثو په شان مروی دے. او په دے روايت کښې ذكر دے. بيا د هغے نه پس كومه چه دهغهٔ زړهٔ غواړی دُعا د اوكړی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كُنَّا إِذَا جَلَسْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَنْصُورٍ وَقَالَ ثُمَّ يَتَخَيَّرُ بَعْدُ مِنَ الدُّعَاءِ

عبد الله بن مسعودؓ ویلی دی. چه د رسول اللهﷺ سره مونږ خلقو په مانځهٔ کښې تشهد لوستلو. لکه چه منصور بيان کړو. او رسول اكرمﷺ فرمايلی دی چه د تشهد لوستو نه پس مونځ كونكی ته اختيار دے كومه دُعا چه غواړی او د كړی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ عَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِﷺ التَّشَهُّدَ كَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ وَاقْتَصَّ التَّشَهُّدَ بِمِثْلِ مَا اقْتَصُّوا

د عبد الله بن عباسؓ بيان دے. چه رسول اكرمﷺ خما لاس په خپلو لاسونو كښې اونيوو. او دا پوره تشهد ئے په هغه شان سره اوښودو. په كوم شان چه به هغهٔ ما ته د قرآن كريم سُورتونه ښودل.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ فَكَانَ يَقُولُ التَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ رُمْحٍ كَمَا يُعَلِّمُنَا الْقُرْآنَ

د ابن عباسؓ بيان دے چه رسول اللهﷺ مونږ ته به تشهد په هغه شان ښودلو په كوم شان چه به ئے راته د قرآن كريم سورتونه ښودل. او هغهٔ فرمايلی وو. اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ (تر ختمه) او د ابن رمح بيان دے چهٔ د قرآن كريم د سورتونو په شان به هغهٔ مونږ ته ايزده كولو.

عَنْ حِطَّانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الرَّقَاشِيِّ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ صَلَاةً فَلَمَّا كَانَ عِنْدَ الْقَعْدَةِ قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أُقِرَّتِ الصَّلَاةُ بِالْبِرِّ وَالزَّكَاةِ قَالَ فَلَمَّا قَضَى

د حطان بن عبد الله رقاشی بيان دے. چه ما د ابوموسیٰ اشعریؓ سره مونځ كولو هر كله چه مونږ په تشهد كيناستو. نو د شا نه يو سړی اووے. مونځ د نيكئ او زكواة سره فرض كړے شوے دے. ابوموسیٰؓ د مانځهٔ د ختميدو نه پس تپوس اوكړو. دا خبره په تاسو

احمدؒ ومبی ته واجب او دويم ته فرض ويلی دی د امام ابوحنيفه او امام مالك رحمهما الله او د نورو فقهاؤ په تړ دواړه تشهد سنت دی ليكن په اتفاق د جمهور علمائے اهل حديث په تړ دواړه تشهد واجب دی. چه د هغے نه بغير مونځ هډو كيږی نه (د تشهد په هيره پريخودو سره سجده د سهوے لازميږی) (امام نووی)

أَبُو مُوسَى الصَّلَاةَ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ فَقَالَ أَيُّكُمُ الْقَائِلُ كَلِمَةَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ ثُمَّ قَالَ أَيُّكُمُ الْقَائِلُ كَلِمَةَ كَذَا وَكَذَا فَأَرَمَّ الْقَوْمُ فَقَالَ لَعَلَّكَ يَا حِطَّانُ قُلْتَهَا قَالَ مَا قُلْتُهَا وَلَقَدْ رَهِبْتُ أَنْ تَبْكَعَنِي بِهَا فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَنَا قُلْتُهَا وَلَمْ أُرِدْ بِهَا إِلَّا الْخَيْرَ فَقَالَ أَبُو مُوسَى أَمَا تَعْلَمُونَ كَيْفَ تَقُولُونَ فِي صَلَاتِكُمْ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَنَا فَبَيَّنَ لَنَا سُنَّتَنَا وَعَلَّمَنَا صَلَاتَنَا فَقَالَ إِذَا صَلَّيْتُمْ فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ ثُمَّ لْيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذْ قَالَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ يُجِبْكُمُ اللهُ فَإِذَا كَبَّرَ وَرَكَعَ فَكَبِّرُوا وَارْكَعُوا فَإِنَّ الْإِمَامَ يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتِلْكَ بِتِلْكَ وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ يَسْمَعِ اللهُ لَكُمْ فَإِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وَإِذَا كَبَّرَ وَسَجَدَ فَكَبِّرُوا وَاسْجُدُوا فَإِنَّ الْإِمَامَ يَسْجُدُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتِلْكَ بِتِلْكَ وَإِذَا كَانَ عِنْدَ الْقَعْدَةِ

کښې چا کړے ده؟ ټول خلق خاموش شول. نو هغهٔ بیا اووے. تاسو خلق اورئ اوبنایئ ستاسو نه دا خبره چا اوکړه؟ کله چه ټول خلق چپ پاتے شول نو هغهٔ ماته اووے. اے حطان! کیدے شی تا دا کلمے ویلی وی. ما عرض اوکړو جی نه ما دا کلمے نهٔ دی ویلی. ما ته خو دا یره وه چه چرے تاسو خفه نهٔ شئ. په دے کښې یو سړی اووے دا کلمات ما ویلی دی . او په دے کښې څما نیت صرف د خیر او د نیکئ وو. ابوموسیٰ ؓ جواب ورکړو چه تاسو خاتی نهٔ پوهیږئ چه تاسو لره په خپل مانځهٔ کښې څهٔ ویل پکار دی. ~الاتکه رسول الله ﷺ مونږ ته د خطبے په دوران ټول اُمور ښودلی دی. او مونځ کول ئے راته ښودلی دی. هغه په دے شان چه تاسو خلق د مانځهٔ د کولو نه مخکښې صفونه برابر کړئ یعنی نیغ کړئ بیا به ستاسو نه یو امام جوړ شی. او هر کله چه هغه الله اکبر اووائی نو تاسو هم اووایئ. او هر کله چه هغه ° وَلَا الضَّالِّينَ ° اووائی. نو تاسو اٰمین اووایئ. ددے دپاره چه الله ستاسو نه خوشحاله شی. د امام د تکبیر او رکوع سره تاسو هم تکبیر وایئ او رکوع کوئ. او د امام نه وړاندِ تکبیر او رکوع مهٔ ادا کوئ. ولے چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی ستاسو یوه لمحه تاخیر کول د امام د رکوع او تکبیرونو برابر شمارلے کیږی. بیا چه هر کله امام سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اووائی نو تاسو اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وایئ. او الله تعالیٰ ستاسو دعاګانو لره اوری. ولے چه الله تعالیٰ د خپل رسول په ژبه ویلی دی. چه څوک د الله تعالیٰ تعریف او صفت کوی نو الله تعالیٰ هغے لره اوری. امام چه هر کله تکبیر اووائی او سجده اوکړی نو تهٔ هم تکبیر وایه او سجده کوه. ولے چه ستانه یوه لمحه مخکښې امام تکبیر وائی او سجده لو

فَلْيَكُنْ مِنْ أَوَّلِ قَوْلِ أَحَدِكُمْ التَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلهِ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

عَنْ قَتَادَةَ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ وَفِي حَدِيثِ جَرِيرٍ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ قَتَادَةَ مِنَ الزِّيَادَةِ وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَحَدٍ مِنْهُمْ فَإِنَّ اللهَ قَالَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ إِلَّا فِي رِوَايَةِ أَبِي كَامِلٍ وَحْدَهُ عَنْ أَبِي عَوَانَةَ قَالَ أَبُو إِسْحَقَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ ابْنُ أُخْتِ أَبِي النَّضْرِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ فَقَالَ مُسْلِمٌ تُرِيدُ أَحْفَظَ مِنْ سُلَيْمَانَ فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ فَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ هُوَ صَحِيحٌ يَعْنِي وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا فَقَالَ هُوَ عِنْدِي صَحِيحٌ فَقَالَ لِمَ لَمْ تَضَعْهُ هَا هُنَا قَالَ لَيْسَ كُلُّ شَيْءٍ عِنْدِي صَحِيحٍ وَضَعْتُهُ هَا هُنَا إِنَّمَا وَضَعْتُ هَا هُنَا مَا أَجْمَعُوا عَلَيْهِ

اوچتيږي. او تهٔ يوه لمحه روستو دا عملونه كوه. نو تهٔ به هم د هغهٔ سره ئے. او امام چه هر كله په تشد كښې كيني نو ستاسو نه د هر يو دا دُعا لولي. التَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلهِ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

قتادهؒ يو بل روايت هم په دے سند سره كړے دے. ددے نه علاوه جرير د سليمان په ذريعه د قتادهؓ د ژبے دا حديث بيان كړے دے چه په هغے كښې دا الفاظ دي چه امام كله قرأت كوي نو مقتدي دِ په خاموشۍ اوري. د ابو كامل روايت چه هغه صرف د ابوعوانه د ژبے دے. دهغے نه علاوه د يو بل حديث نه دا ثابت نهٔ دي. چه الله تعالى د رسول اكرم ﷺ په ژبه دا اوفرمايل چه كوم بنده تعريف د الله كوي نو الله د هغهٔ تعريف اوري. اولبته د امام مسلمؒ شاګرد ابو اسحٰقؒ وئيلي دي. چه ابوبكر چه د ابونضر د خور ځوے دے هغه دے روايت ته د خبرو اترو كولو محل وائي. د امام مسلمؒ بيان دے. چه د سليمان نه زيات حافظ څوك دے. (يعني دا روايت بالكل صحيح دے لكه چه سليمان روايت كړے دے چه امام كله په مانځهٔ كښې قراءت كوي نو مقتدي لره خاموش اوريدل پكا ردي) د ابوبكر په تپوس باندے امام مسلم اووے . چه دا ابوهريرهؓ روايت كړے حديث بالكل صحيح دے. چه د امام په قراءت باندے دِ مقتدي خاموش وي. بيا امام مسلم په معلوماتو باندے جواب وركړو دا ضروري نهٔ ده چه كوم روايت لره زهٔ صحيح اوګنړل هغے لره په خپل كتاب كښې اوليكم بلكه ما په دے كتاب كښې هغه احاديث ليكلي دي چه هغه په متفقه طور

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيْثِ فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَضٰى عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ

باندے صحیح دی[1].

قتاده رحمه الله په دٔے اسناد سره بیان کړے دے چه الله تعالی د رسول اکرم ﷺ په ژبه باندے ویلی دی چه څوک د الله تعریف کوی نو الله هغه اوری.

بَاب الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ التَّشَهُّدِ

باب : د تشهد نه روسته په نبی ﷺ باندے د درود ویلو حکم

عَنْ أَبِي مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ أَتَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي مَجْلِسِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ لَهُ بَشِيْرُ بْنُ سَعْدٍ أَمَرَنَا اللهُ تَعَالٰى أَنْ نُصَلِّيَ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ فَسَكَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى تَمَنَّيْنَا أَنَّهُ لَمْ يَسْأَلْهُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُوْلُوْا اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ

د ابو مسعود انصاریؓ بیان دے. چه مونږ خلق د سعد بن عبادهؓ سره ناست وو. چه په دے کښ رسول اکرم ﷺ هلته تشریف راوړو. دغه رنګے بشیر بن سعدؓ تپوس اوکړو. یا رسول الله! الله مونږ ته په تا باندے د درود لیږلو حکم راکړے دے. دد ے دپاره اوښایه چه مونږ به په تا باندے په څهٔ شان سره درود لیږو؟ دد ے د اوریدو نه پس هغه بالکل چُپ شو. او مونږ دا تمنا اوکړه چه کاش مونږ ددهٔ نه تپوس نه وے کړے. بیا څهٔ لږ ساعت پس هغهٔ اوفرمایل. چه په دی شان درود شریف لولئ : اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ

[1] بعضے خلقو د امام مسلم رحمه الله په دے کتاب باندے اعتراض کړے دے چه په دے کښ اکثر هغه احادیث دی. چه په هغے باندے د جمهورو اتفاق نشته. نو د هغے جواب دادے چه په صحیح مسلم کښ چه څومره اهادیث دی د امام مسلم رحمه الله په نزد په هغے ټولو باندے د جمهورو اتفاق دے. چه د هغے صفا مطلب دادے. چه امام مسلم رحمه الله په اسباب او علل کښ د نورو تقلید نهٔ کولو یعنی په دے حدیث کښ وَاِذَا قَرَأَ فَانْصِتُوْا د الفاظو په زیادت باندے د علماؤ په خپل مینځ کښ اختلاف دے. یحیٰی بن معین ، ابوحاتم رازی، دار قطنی او د حاکم ابو عبد الله شیخ حافظ ابوعلی نیشاپوری رحمهم الله ورسره امام بیهقی رحمه الله په خپل سنن کبیر کښ د ابودؤد په شان لیکلی دی. چه د هغه الفاظو زیادت محفوظ نهٔ دے ورسره سلیمان تیمی رحمه الله دد ے حدیث په بیانولو کښ د قتاده رحمه الله د ټولو دوستانو مخالفت کړے دے. علاوه دد ے نه د ټول حدیثو د حافظانو اتفاق دے چه په دے حدیث کښ د هغه الفاظو زیاتوالی صرف یو ضعیف روایت دے. او دد ے نه مخکښ نے د امام مسلم رحمه الله روغوالے بیان کړو او څهٔ دلیل کیدے شی. چه هغوی پخپله دے روایت لره په خپل صحیح کښ شامل نهٔ کړو (از امام نووی رحمة الله علیه)

كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ فِي الْعَالَمِينَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ وَالسَّلَامُ كَمَا قَدْ عَلِمْتُمْ

عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ فِي الْعَالَمِينَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ او د سلام د لیږلو طریقه خو تاسو معلومه ده[1].

عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ فَقَالَ أَلَا أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا قَدْ عَرَفْنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

د ابن ابی لیلی بیان دے . چه کعب بن عجرهؓ خما سره میلاؤ شو او اوئے ویل .زۀ تا ته دا تحفه درکوم. چه یو ځلے مونږ رسول اللهﷺ ته اووے . یا رسول اله ! په تا باندے د سلام لوستلو چل خو مونږ معلوم کړے دے مګر دا اوښایئ چه په تاسو درود څنګه وایو. ارشاد اوشو. وایئ چه اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

د ابوحمید ساعدیؓ بیان دے. چه صحابوؓ عرض اوکړو. یا رسول الله ! مونږ به په تا باندے درود په څۀ شان سره لیږو. ارشاد اوشو چه وایئ: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا

ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ ارشاد بیان کړے دے. چه کوم سړے په ما باندے یو ځلے درود اولیږی. نو الله په هغۀ باندے لس ځله درود اولیږی[1].

---

[1] د علماؤ په خپلو کښ اختلاف دے. چه درود د آخری تشهد نه پس لوستل واجب دی. یا نۀ دی. دغه رنګے امام ابوحنیفه او امام مالک رحمهما الله او جمهور علماؤ درود لوستلو ته سنت ویلی دی. یعنی کۀ څوک بنده د تشهد نه پس درود اونۀ لولی بیا هم مونځ کیږی. او د امام شافعی او امام احمد ، امام شعبی رحمهم الله او عبد الله بن عمر رضی الله عنه په نز درود لوستل واجب دی. یعنی کۀ چرے درود او نۀ لوستے شی نو مونځ نۀ کیږی. د امام بیهقیؒ بیان دے چه څنو خلقو په امام شافعی او امام شعبی رحمهما الله باندے دا الزام لګولے دے چه هغوی د اجماع مخالفت کړے دے. نو دا الزام پخپله غلط دے. ځکه چه د حضرت عمرؓ ارشاد دے چه د تشهد نه پس درود لوستل واجب دی.

بَاب التَّسْمِيعِ وَالتَّحْمِيدِ وَالتَّأْمِينِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِذَا قَالَ الْإِمَامُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوا فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ آمِينَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَالَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ آمِينَ وَالْمَلَائِكَةُ فِي السَّمَاءِ آمِينَ فَوَافَقَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

باب : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ او د اٰمین د ویلو حکم

د ابوهریرة رضی الله عنه بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی هر کله چه امام سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اووائی نو تاسو اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وایئ. ځکه چه د چا دا وینا د فرښتو د وینا موافق شوه نو د هغهٔ تیر شوی ګناهونه به معاف کړے شی.[1]

د ابوهریرة رضی الله عنه بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی .امام چه هر کله اٰمین اووائی نو مقتدی دِ هم اٰمین وائی او د چا اٰمین چه د فرښتو د اٰمین سره برابر نو د هغهٔ تیر شوی ګناهونه معاف کولے شی. د ابن شهاب بیان دے رحمتِ دوعالَم به وَلَا الضَّالِّيْنَ نه روستو اٰمین ویلو.[2]

ابوهریرة رضی الله عنه د رسول اکرم ﷺ ارشاد بیان کړے دے. په هغه وخت کښ چه یو ستاسو نه په مانځهٔ کښ اٰمین اووائی. او فرښتے په آسمان کښ اٰمین اووائی. بیا ستاسو او د هغوی اٰمین د یو بل سره برابر شی نو د هغهٔ مونځ کونکی تیر شوی تول ګناهونه معاف کړے شی.

---

[1]: د قاضی عیاض رحمه الله بیان دے. چه الله تعالی په داسے سړی باندے خپل رحمتونه نازلوی یا لس حصے زیات هغهٔ لره ثواب ورکوی. لکه چه د پروردګار دا حکم دے.چه څوک د نیکئ یو کار کوی نو الله تعالی جل شانه هغهٔ لره د لسو حصو نه هم زیات ثواب ورکړی (امام نووی رحمه الله).

ښکاره خبره ده چه د درود شریف معنی رحمتونه ، مبارکئ او مهربانئ دی. ددے نه علاوه د درود معنے دی امداد کول، د احکامو د تابعدارئ حکم ورکول (از مترجم)

[2]: ددے حدیث شریف نه معلومه شوه. چه امام او مقتدی دواړو لره اٰمین ویل مستحب دی. دغه شان چه کوم بنده یواځے مونځ کوی هغهٔ لره هم اٰمین ویل ضروری دی. او مقتدی لره د امام سره سره اٰمین ویل پکار دی. د امام د آمین نه لږ مخکښ او لږ روستو دِ اٰمین نهٔ شی ویلے. دغسے د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم حکم دے. چه هر کله امام اٰمین اووائی. نو مقتدی لره د یو سیکنډ حصاریدو نه بغیر اٰمین ویل پکار دی. د امام شافعی او احمد رحمهما الله په تر آمین په جهر (زوره) ویل پکار دی. امام مالک او امام ابوحنیفه رحمهما الله مسلک دا دے چه اٰمین په رو د وائی (نووی رحمه الله).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِذَا قَالَ الْقَارِئُ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ فَقَالَ مَنْ خَلْفَهُ آمِينَ فَوَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ أَهْلِ السَّمَاءِ غُفِرَلَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

د ابوهریرهؓ بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. قرآن کریم لوستلو والا چه کلمو لَا الضَّآلِّينَ اولولی. اود هغهٔ نه روستو بنده آمین اووائی. او د هغهٔ وینا د آسمان والاو د وینا سره په عین وخت کښې راشی نو د هغهٔ بنده ټول ګناهونه معاف کړے شی.

بَاب ائْتِمَامِ الْمَأْمُومِ بِالْإِمَامِ

باب : مقتدی لره د امام تابعداری ضروری ده

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ سَقَطَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ فَرَسٍ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ نَعُودُهُ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى بِنَا قَاعِدًا فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُودًا فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ وَإِذَا صَلَّى قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا أَجْمَعُونَ

د انس بن مالکؓ بیان دے چه د آس نه د غورځیدو په وجه سره د رسول اکرم ﷺ ښی طرفته بدن زخمی شوے وو. مونږ د هغهٔ د پوښتنے دپاره لاړو. چونکه د مانځهٔ وخت شوے وو. خکه هغه په ناستے مونځ اوکړو. او کله چه مونږ ټولو خلقو مونځ اوکړو. نو ارشاد اوشو. امام د دے دپاره جوړ شوے دے چه د هغهٔ پیروی اوکړے شی. هغه چه کله تکبیر وائی. نو تاسو هم تکبیر وایئ. هغه چه کله سجده کوی نو تاسو هم سجده کوئ. او هغه چه کله سر اوچتوی نو تاسو هم سر اوچتوئ او هغه چه کله تسمیع وائی نو تاسو تحمید لولئ. او هر کله چه هغه کینی مونځ کوی. نو تاسو هم کینئ او مونځ ادا کوئ[1].

---

[1] د دے حدیث نه ظاهره ده چه رسول الله ﷺ فرض مونځ کړے وو. او هم رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ سره د واو او بغیر د واوِ عطف نه دواړه قسمه ویل جائز دی. او صحیح دی. او د امام تابعداری په مقتدی باندے واجب ده. لیکن تکبیر، رکوع، قومه، سجده او قاعده وغیره دا ټول ارکان د امام نه پس دِ کوی. د اما نه مخکښې به یو رکن هم نه ادا کوی. ګنی نو مونځ به صحیح نهٔ وی. او مقتدی کهٔ د خپل امام نه وړاندے رکوع یا سجده کوی. نو ګنهګار به وی. او کهٔ چرے د امام نه مخکښې سلام اوګرځوی. نو مونځ نهٔ کیږی. او په دے روایت کښې چه امام کهٔ چرے په ناستے مونځ کوی نو مقتدی لره هم په ناستے مونځ کول پکار دی. په دے روایت کښې د علماؤ په خپلو کښې اختلاف دے. د امام اوزاعی او امام احمد رحمهما الله په نز په دے حدیث باندے عمل کول ضروری دی. امام مالکؒ وائی چه کوم سړے اودریدے شی د هغهٔ مونځ په ناستے مونځ کولو والا پسے صحیح نهٔ دے. لیکن د امام ابوحنیفهؒ او امام شافعی رحمهما الله او جمهور علماؤ په نز په ناستے مونځ کولو والا امام پسے د مقتدیانو په ولاړے مونځ کول پکار دی. خکه چه رسول الله ﷺ د مرضِ موت په حالت کښې په ناستے مونځ کړے دے. او ابوبکر او نورو صحابو رضی الله عنهم په هغهٔ پسے روستو په ولاړے مونځ کړے دے. اګر چه د بعضے خلقو خیال دے. چه د رسالت مآب ﷺ د مرض په حالت کښې حضرت ابوبکر صدیق امامت کړے وو. د امام د

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اشْتَكَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ يَعُودُونَهُ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا فَصَلَّوْا بِصَلَاتِهِ قِيَامًا فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَنِ اجْلِسُوا فَجَلَسُوا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا

د اُمُ المؤمنین حضرت عائشې نه روایت دے. چه د رسول الله ﷺ د بیمار پرسئ دپاره صحابه کرام راغلل. هغهٔ په ناستې مونځ ورکړو. لیکن څهٔ خلق د هغهٔ شاته ولاړ وو. نو هغهٔ په اشاره سره هغوی ته د ناستې حکم ورکړو. بیا هغهٔ د مانځهٔ د فراغت نه پس اوفرمائیل امام ددے دپاره دے. چه د هغهٔ تابعداری اوکړئ. هغه چه کله رکوع کوی نو تاسو رکوع کوئ. او هغه چه سر اوچتوی نو تاسو هم سر اوچتوئ. او هر کله چه هغه په ناستې مونځ کوی نو تاسو هم په ناستې مونځ ادا کوئ[1].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ اشْتَكَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ وَهُوَ قَاعِدٌ وَأَبُو بَكْرٍ يُسْمِعُ النَّاسَ تَكْبِيرَهُ فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا فَرَآنَا قِيَامًا فَأَشَارَ إِلَيْنَا فَقَعَدْنَا فَصَلَّيْنَا بِصَلَاتِهِ قُعُودًا فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ إِنْ كِدْتُمْ آنِفًا لَتَفْعَلُونَ فِعْلَ فَارِسَ وَالرُّومِ يَقُومُونَ عَلَى مُلُوكِهِمْ وَهُمْ قُعُودٌ فَلَا تَفْعَلُوا ائْتَمُّوا بِأَئِمَّتِكُمْ إِنْ صَلَّى قَائِمًا فَصَلُّوا قِيَامًا وَإِنْ

د جابر بیان دے. چه د رسول اکرم ﷺ په بیمارئ کښې مونږ په هغهٔ پسے ورستو په دے شان مونځ اوکړو چه هغه ناست وو. او حضرت صدیق اکبر د مکبّر په حیثیت تکبیرات ویل. مونږ په ولاړے مونځ کولو سره چه هغهٔ اولیدو نو په اشاره سره ئے مونږ ته د کیناستو حکم اوکړو. نو مونږ کیناستو. بیا د مانځهٔ د فراغت نه پس ارشاد عالی اوشو. تاسو هغه وخت هغه کار اوکړو. لکه چه فارس او روم والاد خپل بادشاه مخې ته ولاړ وی. او بادشاه ناست وی. او د راتلونکی وخت دپاره داسې مهٔ کوئ. بلکه همیشه د خپل امام تابعداری کوئ کهٔ چرے هغه په ناستې

تابعدارئ مقصد دا دے. چه مقتدی به په ظاهری ارکانو کښې د امام تابعداری کوی. فرض مونځ د نفل کونکی والانه روستو د احنافو په نز د نفل کونکی نه روستو د فرض مونځ کونکی مونځ صحیح نهٔ دے، دغسې د مازیګر مونځ د ماسپخین مونځ کونکی نه روستو صحیح نهٔ دے، دلائل د احنافو په کتابونو کښې موجود دی. عارف د هغهٔ برعکس جائز او صحیح دے. دغسې د مازیګر مونځ د ماسپخین په مانځهٔ کونکی پسې او د هغې بالعکس هم جائز او صحیح دے. البته د امام مالک او امام ابوحنیفه رحمهما الله په نز داسې مونځ صحیح کیدے نهٔ شی. زمونږه او د ټولو اهل حدیثو دلیل دا دے چه رسول اکرم ﷺ نماز خوف دوه خله اوکړو. د دویم خل هغه مونځ د هغهٔ دپاره نفل وو. او د نورو مقتدیانو دپاره فرض وو. په دے شان حضرت معاذ به د ماسخوتن مونځ د رسول الله ﷺ سره ادا کولو نه پس به خپل خائے ته لاړو او هغوی ته به ئے د ماسخوتن مونځ ورکولو. په دغه صورت کښې د دویم خل مونځ د حضرت معاذ دپاره نفل وو او د هغه نورو مقتدیانو دپاره فرض وو. (امام نووی)

[1] امام نووی رحمه الله فرمایلی دی چه ددے حدیث نه ثابته شوه. چه په اشاره یا بل څهٔ په لږ عمل سره مونځ نهٔ فاسدیږی

صَلَّى قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَلَا تَخْتَلِفُوا عَلَيْهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا أَجْمَعُونَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا يَقُولُ لَا تُبَادِرُوا الْإِمَامَ إِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا قَالَ وَلَا الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ فَإِذَا صَلَّى قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ فَإِذَا وَافَقَ قَوْلُ أَهْلِ الْأَرْضِ قَوْلَ أَهْلِ السَّمَاءِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَإِذَا صَلَّى قَائِمًا

مونځ کوی نو تاسو هم په ناستے مونځ ادا کوئ.

د ابوهريرهؓ بیان دے. چه رسول اکرم ﷺ فرمايلی دی امام ددے دپاره دے چه د هغهٔ تابعداری اوکړے شی. تاسو د هغهٔ مخالفت مهٔ کوئ. هغه چه کله تکبير وائی نو تاسو هم تکبير وايئ. او هغه چه کله رکوع کوی نو تاسو هم رکوع کوئ. او هغه چه کله تسميع اولولی. نو تاسو تحميد لولئ. د هغهٔ د سجدے سره تاسو سجده کوئ. او هر کله چه هغه په ناستے سره مونځ ورکوی. نو تاسو هم په ناستے سره مونځ ادا کوئ.

د ابوهريرهؓ نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ به مونږ ته تعليم راکوو او فرمايل به ئے د امام نه مخکښ څهٔ کار مهٔ کوئ. هغه چه کله تکبير وائی هغه وخت تکبير وايئ. او هر کله چه هغه وَلَا الضَّآلِّينَ اووائی نو تاسو آمين وايئ. او کله چه هغه رکوع کوی نو تاسو هم رکوع کوئ. او هغه چه کله تسميع وائی نو تاسو تحميد وايئ.

ابوهريرهؓ د رسول اکرم ﷺ ارشاد بيان کړے دے. چه امام د يو ډهال پشان دے. هغه کهٔ چرے په ناستے سره مونځ ورکوی نو تاسو هم په ناستے سره مونځ ادا کوئ. او هغه چه کله تسميع اووائی نو تاسو تحميد وايئ. ځکه چه د چا وينا د آسمان والاو د وينا برابر شی نو د هغهٔ تير شوی ګناهونه معاف کولے شی.

ابوهريرهؓ د رسالت ماب ﷺ ارشاد بيان کړے دے. چه امام ددے دپاره مقرر کړے شوے دے. ددے دپاره چه تاسو د هغهٔ تابعداری اوکړئ. کله چه هغه تکبير وائی نو تاسو هم تکبير وايئ. او کله چه هغه رکوع کوی نو تاسو هم رکوع کوئ. او کله چه هغه تسميع اولولی نو تاسو تحميد وايئ. او کله چه هغه په ولاړے مونځ ورکوی نو

فَصَلُّوا قِيَامًا وَإِذَا صَلَّى قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا أَجْمَعُونَ

تاسو هم په ولاړه مونځ کوئ او کله چه هغه په ناستې مونځ ورکوی نو تاسو هم په ناستې مونځ ادا کوئ

بَاب اسْتِخْلَافِ الْإِمَامِ إِذَا عَرَضَ لَهُ عُذْرٌ مِنْ مَرَضٍ وَسَفَرٍ وَغَيْرِهِمَا مَنْ يُصَلِّي بِالنَّاسِ وَأَنَّ مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ جَالِسٍ لِعَجْزِهِ عَنِ الْقِيَامِ لَزِمَهُ الْقِيَامُ إِذَا قَدَرَ عَلَيْهِ وَنَسْخُ الْقُعُودِ خَلْفَ الْقَاعِدِ فِي حَقِّ مَنْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ

باب: امام ته کۀ چرے د بیمارئ یا د سفر وغیره عذر وی نو هغه دے د مانځۀ دپاره خپل خلیفه مقرر کړی. امام کۀ چرے په ناسته مونځ کوی او مقتدي اودریدے شی نو په ولاړے دے مونځ کوی. ځکه چه مقتدی په اودریدو قادر وی نو د هغۀ دپاره په ناستے د مونځ کولو حکم منسوخ شوے دے

عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ لَهَا أَلَا تُحَدِّثِينِي عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ بَلَى ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ قُلْنَا لَا وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ قُلْنَا لَا وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ قُلْنَا لَا وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا

د عبید الله بن عبدالله بیان دے چه زۀ د حضرت عائشے رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شوم. او عرض مے اوکړو. چه تۀ ما ته د رسول الله ﷺ د بیمارئ واقعات بیان کړه. هغے اوفرمایل. چه رسول الله ﷺ بیمار شو. نو ارشاد اوشو. ولے خلقو مونځ کړے دے؟ مونږ اووے. نه جی! بلکه هغه ستا په انتظار دی. ارشاد اوشو ځما دپاره په غټ تهال کښې اوبۀ کیږدوه. ما اوبۀ کیښودے نو هغۀ غسل اوفرمایلو. د هغے نه پس ئے تلل غوښتل لیکن په هغۀ باندے بیهوشی راغله. او هر کله چه ورته آرام راغے نو بیائے تپوس اوکړو. ولے خلقو مونځ کړے دے ؟ مونږ اووے نه جی. یا رسول الله . هغه ټول ستا په انتظار کښې دی. هغۀ اوفرمایل ځما دپاره په غټ تهال کښې اوبۀ کیږدوه. دغه رنګے ما د هغۀ د حکم تعمیل اوکړو. او هغۀ غسل اوکړو بیا هغۀ د تلو دپاره تیار شو. لیکن دوباره په هغۀ بیهوشی راغله. او بیا په هوش کښې د راتلونه ارشاد اوشو. ولے خلقو مونځ اوکړو؟ مونږ عرض اوکړو. نه جی. نۀ دے کړے. یا رسول الله! هغه

رَسُولَ اللهِ فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ فَقُلْنَا لَا وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَتْ وَالنَّاسُ عُكُوفٌ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ قَالَتْ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَأَتَاهُ الرَّسُولُ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَكَانَ رَجُلًا رَقِيقًا يَا عُمَرُ صَلِّ بِالنَّاسِ قَالَ فَقَالَ عُمَرُ أَنْتَ أَحَقُّ بِذَلِكَ قَالَتْ فَصَلَّى بِهِمْ أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ مِنْ نَفْسِهِ خِفَّةً فَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ وَأَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فَلَمَّا رَآهُ أَبُو بَكْرٍ ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا يَتَأَخَّرَ وَقَالَ لَهُمَا أَجْلِسَانِي إِلَى جَنْبِهِ فَأَجْلَسَاهُ إِلَى جَنْبِ أَبِي بَكْرٍ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي وَهُوَ

تول ستا انتظار کښې دی. او دیخوا د خلقو حالت دا وو. چه هغه تول د ماسخوتن د مانځهٔ دپاره د رسالت مآب ﷺ د تشریف راوړلو دپاره په جماعت کښې منتظر وو. آخر هغهٔ د یو سړی په لاس ابوبکر صدیقؓ ته وینا اولیږله چه تهٔ مونځ اوکړه خلقو ته. دغه رنګے هغه سړے د حضرت ابوبکر صدیقؓ په خدمت کښې حاضرشو او اوئے ویل. چه رحمت دو عالم ﷺ حکم کړے دے چه تهٔ خلقو ته مونځ ورکړه. د حضرت ابوبکر صدیقؓ زړهٔ ډیر نرم وو (هغه ډیر زر په ژړا شو) دد ے وجې نه هغهٔ حضرت عمرؓ ته اووے اے عمرهٔ تهٔ مونځ ورکړه. په دے باندے حضرت عمرؓ اووے. نهٔ جی. تهٔ پخپله د امامت زیات مستحق ئے.او تاته د مانځهٔ د کولو (یعنی امامت) دپاره حکم درکړے شوے دے. چنانچه حضرت صدیق اکبرؓ د څو ورځو دپاره مونځ ورکړلو. په دغه دوران کښې د رسول اکرم ﷺ په طبیعت کښې لږ شان ښهٔ والے پیدا شو. نو هغه د دوو سړو په مدد د ماسپخین د مانځهٔ دپاره جماعت ته تشریف یوړهٔ. په دغه دوو سړو کښې یو حضرت عباسؓ وو (چه د حضرت ترهٔ وو) غرض دا چه رسول اکرم ﷺ جماعت ته هغه وخت اورسیدو. کله چه حضرت صدیق اکبرؓ په حیثیت د امام مونځ ورکولو. هغوی چه کله رسول اکرم ﷺ لره اولیدو. نو شاته روستو کیدل ئے غوښتل. لیکن هغهٔ ورته په اشاره سره اوفرمایل چه روستو کیږه مه او خپلو ملګرو ته ئے اووے. ما د ابوبکرؓ سره برابر دد ے ته کینوئ. غرض دا چه هغوی دوارو هغهٔ لره د ابوبکرؓ نه یو طرف ته د هغهٔ په برابر کینولو. رسالت مآب ﷺ په ناستے ناستے مونځ شروع کړو. او حضرت صدیق اکبرؓ دغه شان په ولاړے ولاړے د رسول اکرم ﷺ د مانځهٔ تابعداری شروع کړله (لکه

قَائِمٌ بِصَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ قَالَ عُبَيْدُ اللهِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَهُ أَلَا أَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَاتِ فَعَرَضْتُ حَدِيثَهَا عَلَيْهِ فَمَا أَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِي كَانَ مَعَ الْعَبَّاسِ قُلْتُ لَا قَالَ هُوَ عَلِيٌّ

چه رسول اکرم ﷺ امام وی او حضرت صدیق اکبرؓ مقتدی، او ټولو صحابهٔ کرامو د ورپسې په شان د هغه فرض مونځ په ما سپخین کښې د حضرت صدیق اکبرؓ تابعداری کوله. د عبید الله بن عبد الله بیان دے چه زهٔ د عبد الله بن عباس خواله لاړم او ورته م اووے.. زهٔ تا ته هغه حدیث اوروم کوم چه حضرت عائشے صدیقےؓ ماته اورولے دے. او د هغه په طلب باندے ما پوره حدیث هغه ته واورولو. چه هغے د اوریدو نه پس هغوی اووے. دا پوره حدیث بالکل صحیح دے. بیائے تپوس اوکړو چه هغه دویم سړے چه د رسول الله ﷺ سره وو. څوک وو پیژنې؟ څکه حضرت عائشےؓ یعنی ام المؤمنین د هغهٔ نوم نهٔ دے اخستلے. ما جواب ورکړو جی، نه. نو هغوی اووی هغه دویم سړی حضرت علیؓ وو[1].

---

[1] د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم غسل کول بیا د جماعت خواهش کول او برله پسے بے هوشه کیدل دا ټول د مرض د سخت والی د موجے نه وو. حاشا وکلّا هیڅ کله هیڅ کله هغهٔ ته د څهٔ قسم جنون نهٔ وو. ولے چه لیونتوب او پاګل توب یو نقص دے. او پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم بالکل د هر نقص نه پاک او صفا وو. د بیماریانو د زیاتی نه الله تعالی جل شانه ته درجه او ثواب زیاتول منظور دی. صحابو د مانځهٔ دپاره د هغهٔ انتظار کوو. دد ےنه ثابته شوه چه د امام د راتلو امید وی نو هغهٔ ته انتظار کول جائز دی. په شرط دد ے چه د مانځهٔ وخت باقی وی. او هر خل د بے هوشئ نه پس غسل کول مستحب دی. او کهٔ د څو واره بیهوشئ نه پس یو وار غسل اوکړے شی نو هم پوره دے. قاضی عیاض رحمه الله بیان کړے دے. چه په دی حدیث کښې د غسل نه مراد اودس دے. ولے چه د بیهوشه کیدو نه پس غسل واجب نهٔ دے. بلکه اودس کول ضروری دی.

او د حضرت عمر رضی الله عنه دد ے بیان نه چه اے صدیق اکبر ! د مانځهٔ د ورکولو دپاره تاسو زیات مستحق یئ. څو فائدے حاصلے شوی دی. یو خو دا چه په ټولو صحابه کرامو باندې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته تر نه فضیلت ثابت دے. دویمه دا چه امام ته هر کله څهٔ عذر وی نو هغه د خپل خلیفه مقرر کوی. دریمه دا چه د حضرت صدیق اکبر رضی الله نه پس حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په ټولو نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم باندے افضل دے. دغسے دد ے حدیث شریف نه د امام شافعی رحمه الله د مذهب موافق دا هم معلومه شوه. چه امام کچرے ناست وی . نو مقتدیانو لره په شرط د طاقت قیام یعنی په ولاړے باندے مونځ ادا کول پکار دی.

په حدیث شریف کښې دویم دوه ورکونکی سره نوم کوم چه د حضرت عباس رضی الله عنه سره وو. هغه حضرت عبدا الله بن عباس رضی الله عنه حضرت علی رضی الله عنه خودلے دے. یو روایت دا دے چه دویم سړے فضل بن عباس رضی الله عنه وو. او په یو روایت کښې دادی چه دویم سړے په اصل کښې أسامه بن زید رضی الله عنه وو. لیکن حقیقت دا دے چه دغه ټولو تلقو په وار وار

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ فَقَالَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيفٌ وَإِنَّهُ مَتَى يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ فَقَالَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ قَالَتْ فَقُلْتُ لِحَفْصَةَ قُولِي لَهُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيفٌ وَإِنَّهُ مَتَى يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ فَقَالَتْ لَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُنَّ لَأَنْتُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ قَالَتْ فَأَمَرُوا أَبَا بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ قَالَتْ فَلَمَّا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ وَجَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَفْسِهِ خِفَّةً فَقَامَ يُهَادَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ وَرِجْلَاهُ تَخُطَّانِ فِي الْأَرْضِ قَالَتْ فَلَمَّا دَخَلَ الْمَسْجِدَ سَمِعَ أَبُو بَكْرٍ حِسَّهُ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُمْ مَكَانَكَ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى جَلَسَ عَنْ

د حضرت عائشے صدیقےؓ بیان دے چه رسول اکرم ﷺ د بیمارئ په زمانه کښې حضرت بلالؓ هغهٔ ته د مانځهٔ ورکولو د بلنے دپاره راغے. نو هغهٔ ورته اوفرمایل لاړ شه او ابوبکر صدیقؓ ته اووایه چه هغه امامت اوکړی. په دے خبره باندے ما عرض اوکړو یا رسول الله! د هغهٔ زړهٔ ډیر زیات نرم دے. ولے چه د قرآن د لوستلو په وخت د هغهٔ اوښکے په مخ روانے وی نو هغه ستا په ځائے چه اودریږی نو خلقو ته قرآن کریم نهٔ شی اورولے. نهٔ حضرت عمرؓ ته د مونځ دکولو حکم اوکړه نو مناسب به وی. لیکن دوباره ارشاد اوشو چه لاړ شه او ابوبکرؓ ته حکم اورسوه. چه هغه مونځ اوکړی او امامت اوکړی. په دے خبره باندے حفصےؓ ته ما اووے چه تهٔ رسول الله ﷺ ته اووایه چه د حضرت ابوبکر صدیقؓ زړهٔ ډیر زیات نرم دے. هغه چه ستا په ځائے باندے اودریږی نو د قرآن کریم قراءت نهٔ شی کولے. د دے وجے نه حضرت عمرؓ ته د مونځ د کولو حکم ورکړه. غرض دا چه حفصےؓ داسے اووے. په دے باندے حضور نبی کریم ﷺ اوفرمایل. تاسو د یوسف د ملګرو والو په شان مهٔ جوړیږئ او لاړ شئ حضرت ابوبکر صدیقؓ ته اووایئ چه هغه امامت ورکړی. آخر دا چه حضرت ابوبکر صدیقؓ د امامت فرائض سر ته اورسول یوه ورځ د نبی کریم په طبیعت کښې لږه نرمی راغله (یعنی وجود ئے لږ آرام اوموندو) نو هغه د دوو سړو د اوګو په تکیه جماعت ته تشریف یوړل لیکن د هغهٔ خپے مبارکے په زمکه باندے راښکو دے شولے او روان وو. هغه وخت حضرت صدیق اکبرؓ مونځ ورکولو. ابوبکرؓ چه د نبی کریم ﷺ په حرکت پوهه شو نو روسته کیدل ئے غوښتل لیکن رسول

هغهٔ ته ډډه ورکړے وه. او په ورمبی طرف حضرت عباس رضی الله عنه په توله لار یواځے ډډه ورکړے وه. خکه حضرت صدیقے د هغه دویم نوم نهٔ دے اخستے. ولے چه هغه صرف یو سړے نهٔ وو. بلکه خو سړی وو. چه هغوی په وار وار رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته ډډه ورکړے د جماعت پورے تلی وو. او په دغه خلقو کښې حضرت علی هم شریک وو. (نووی رحمه الله)

يَسَارِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ جَالِسًا وَأَبُو بَكْرٍ قَائِمًا يَقْتَدِي أَبُو بَكْرٍ بِصَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَقْتَدِي النَّاسُ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ

الله ﷺ په اشاره سره په خپل ځائے د اودريدو حكم وركړو او پخپله د حضرت صديق اكبرؓ نه ښي طرفته كيناستو. رسول الله ﷺ په ناستے ناستے مونځ كوو. او صديق اكبرؓ د ورمبئ په شان په ولاړے د رسول اكرم ﷺ اقتداء كوله او باقي نور مونځ كونكو د ورمبئ په شان د حضرت صديق اكبرؓ نه روستو په حيثيت د مقتديانو مونځ ادا كولو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فِي مَرَضِهِ فَكَانَ يُصَلِّي بِهِمْ قَالَ عُرْوَةُ فَوَجَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَفْسِهِ خِفَّةً فَخَرَجَ وَإِذَا أَبُو بَكْرٍ يَؤُمُّ النَّاسَ فَلَمَّا رَآهُ أَبُو بَكْرٍ اسْتَأْخَرَ فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ كَمَا أَنْتَ فَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِذَاءَ أَبِي بَكْرٍ إِلَى جَنْبِهِ فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي بِصَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ

د حضرت عائشے صديقےؓ بيان دے . چه رسول اكرم د خپلے بيمارئ په زمانه كښې حضرت صديق اكبرؓ ته د امامت حكم وركړو. هغهٔ به مونځ كولو. د حضرت عروهؓ بيان دے. چه يوه ورځ د رسول اكرم ﷺ طبيعت مبارك لږ ښهٔ شو . نو د بيمارئ د سپک والي په وجه ئے جماعت ته تشريف راوړو. حضرت صديق اكبرؓ مونځ كولو. هغوی چه هر كله د رسول الله ﷺ په راتلو پوهه شو نو روسته كيدل ئے غوښتل ليكن رسول اكرم ﷺ په اشاره سره او فرمايل. چه ته په خپل ځائے اودريږه .دده نه پس هغهٔ د حضرت صديق اكبرؓ په برابر كيناستو. بيا د رسول الله ﷺ په امامت كښې حضرت ابوبكرؓ مونځ اوكړلو. او نورو خلقو د ورمبئ په شكل د ابوبكر صديق په امامت كښې خپل مونځ لره پوره كړو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَانَ يُصَلِّي لَهُمْ فِي وَجَعِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ الِاثْنَيْنِ وَهُمْ صُفُوفٌ فِي الصَّلَاةِ كَشَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتْرَ الْحُجْرَةِ فَنَظَرَ إِلَيْنَا وَهُوَ قَائِمٌ كَأَنَّ وَجْهَهُ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ ثُمَّ تَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَاحِكًا قَالَ فَبُهِتْنَا وَنَحْنُ

د حضرت انس بن مالكؓ بيان دے چه د رسول الله ﷺ د بيمارئ په زمانه كښې چه په هغے كښې هغهٔ رحلت اوفرمايلو حضرت صديق اكبرؓ مونځ كولو. د ګل په ورځ هر كله چه ټول خلق په صف كښې ولاړ وو مونځ ئے كولو چه رسول الله ﷺ د خپلے كمرے پرده اوچته كړه او زمونږ په طرف ئے اوكتلو. هغه ولاړ وو او د هغهٔ مخ مبارک د قرآن د پاڼړو پشان پرقيدونكے وو. هغهٔ چه مونږ خلقو لره د اسلام په مذهب باندے تيار او په مانځهٔ كښې مشغول اوليدو نو مُسكے شو او

فِي الصَّلَاةِ مِنْ فَرَحٍ بِخُرُوجِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَكَصَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى عَقِبَيْهِ لِيَصِلَ الصَّفَّ وَظَنَّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَارِجٌ لِلصَّلَاةِ فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ أَنْ أَتِمُّوا صَلَاتَكُمْ قَالَ ثُمَّ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْخَى السِّتْرَ قَالَ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَوْمِهِ ذَلِكَ

ویخندل. او زمونږ خلقو حالت دا وو. چه مونږ د مانځهٔ کولو په دوران ډیر زیات خوشحاله شو چه رسول اکرم ﷺ د مونځ د ورکولو دپاره تشریف راوړی. حضرت صدیق اکبر چه په حرکت پوهه شو چه حضور ﷺ تشریف راوړی. نو روستو کیدل ئے غوښتل. چه رسول اکرم ﷺ دلاس په اشاره سره اوفرمایل چه تاسو خلق خپل مونځ مکمل کړئ. ددے نه پس رسالت مآب حضور نبی کریم ﷺ بیا خپلے کمرے ته واپس تشریف یوړلو. او د دروازے پرده ئے پریخوده. په دغه ورځ حضور نبی کریم ﷺ رحلت اوفرمایلو[1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَخْرُجْ إِلَيْنَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا فَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَذَهَبَ أَبُو بَكْرٍ يَتَقَدَّمُ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ بِالْحِجَابِ فَرَفَعَهُ فَلَمَّا وَضَحَ لَنَا وَجْهُ نَبِيِّ اللهِ ﷺ مَا نَظَرْنَا مَنْظَرًا قَطُّ كَانَ أَعْجَبَ إِلَيْنَا مِنْ وَجْهِ النَّبِيِّ ﷺ حِينَ وَضَحَ لَنَا قَالَ فَأَوْمَأَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ بِيَدِهِ إِلَى أَبِي بَكْرٍ أَنْ يَتَقَدَّمَ وَأَرْخَى نَبِيُّ اللهِ ﷺ الْحِجَابَ فَلَمْ يُقْدَرْ عَلَيْهِ حَتَّى مَاتَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د انس بن مالک بیان دے. چه رسول اکرم ﷺ د خپلے بیمارئ په زمانه کښ د دریو ورځو پورے مونږ ته مونځ رانهٔ کړو. په دغه زمانه کښ حضرت صدیق اکبر په امامت کولو. یوه ورځ هغه د خپلے حجرے مبارکے پرده اوچته کړه. مونږ د هغهٔ د مخ مبارک دیدار اوکړو. او دا عجیبه منظر مونږ ته ډیر زیات ښهٔ معلوم شو. حضرت ﷺ حضرت صدیق اکبر ته د مونځ د ورکولو په لاس مبارک سره اشاره اوکړله او بیائے د حجرے پرده پریخوده. ددے نه پس مونږ خلقو د وفاته پورے رسالت مآب ﷺ لره اونهٔ لیدو.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ مَرِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاشْتَدَّ مَرَضُهُ فَقَالَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ

د ابو موسیٰ بیان دے. چه رسول الله ﷺ ناجوړه شو. او هغه د هغے خپلے سختے بیمارئ په زمانه کښ حکم اوکړو. چه حضرت ابوبکر صدیق د مونځ ورکوی. چه په هغے باندے حضرت عائشے صدیقے

[1] ممکنه ده چه هغه د مونځ د کولو دپاره تشریف راوړے وو. لیکن هغه په خان کښ دومره طاقت اونهٔ لیدو نو واپس ئے تشریف یوړلو. او دا هم ممکنه ده. چه چونکه هغه حضرت صلی الله علیه وسلم صدیق اکبر رضی الله عنه ته د مانځهٔ د کولو حکم ورکړے وو. او هغهٔ ته معلومه شوے هم وه چه حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه امامت کوی. بیائے هم په خپلو سترګو د لیدو دپاره پخپله تشریف راوړو. چه نور خلق په هغے پسے څنګه مونځ کوی او اقتداء کوی. حاصل دا چه حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په ژوند کښ هم امامت کړو. او هغه اول خلیفه دے (از مترجم اردو کتاب)

يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ رَقِيقٌ مَتَى يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يَسْتَطِعْ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَقَالَ مُرِي أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ فَإِنَّكُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ قَالَ فَصَلَّى بِهِمْ أَبُو بَكْرٍ حَيَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوفرمایل. یا رسول اللهﷺ! د حضرت صدیق اکبر زړهٔ ډیر زیات نرم دے. هغه چه هر کله ستا قائم مقام امامت کوی. نو مونځ به نهٔ شی ورکولے. نو بیا دوباره ارشاد اوشو. چه لاړ شئ او حضرت ابوبکر صدیق ته حکم ورکړئ چه هغه امامت اوکړی او اے عائشے! تاسو ښځے د حضرت یوسف صاحبات یئ او بیا د حضورﷺ د آخری ژوندہ پورے حضرت صدیق اکبر مونځ ورکولو.

بَاب تَقْدِيمِ الْجَمَاعَةِ مَنْ يُصَلِّي بِهِمْ إِذَا تَأَخَّرَ الْإِمَامُ وَلَمْ يَخَافُوا مَفْسَدَةً بِالتَّقْدِيمِ.

باب : هر کله چه د امام په راتلو کښې وسته والے وی او د فتنې او فساد ویره نهٔ وی نو دغه حالت کښې بل یو کس لره وقتی امام جوړولے شی

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ إِلَى بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ لِيُصْلِحَ بَيْنَهُمْ فَحَانَتِ الصَّلَاةُ فَجَاءَ الْمُؤَذِّنُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ أَتُصَلِّي بِالنَّاسِ فَأُقِيمُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فِي الصَّلَاةِ فَتَخَلَّصَ حَتَّى وَقَفَ فِي الصَّفِّ فَصَفَّقَ النَّاسُ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ لَا يَلْتَفِتُ فِي الصَّلَاةِ فَلَمَّا أَكْثَرَ النَّاسُ التَّصْفِيقَ الْتَفَتَ فَرَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِ امْكُثْ مَكَانَكَ فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ يَدَيْهِ فَحَمِدَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى مَا أَمَرَهُ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذَلِكَ

د سهل بن سعد ساعدی بیان دے چه بنی عمرو بن عوف والو ته رسول اکرمﷺ د مصلحت په غرض باندے تشریف یوړلو. چونکه د مانځهٔ وخت شوے وو. څکه موذن د اذان کولو نه پس حضرت صدیق اکبر ته اووے. زهٔ تکبیر کوم او تهٔ مونځ ورکوه. دغه رنګے حضرت صدیق اکبر مونځ ورکولو چه رسول اللهﷺ د روستو نه راغے. د نورو خلقو نه را اووتو او په صف کښې شریک شو. مقتدی دستک ورکول شروع کړل. لیکن حضرت صدیق اکبر په مانځهٔ کښې بل طرفته نهٔ متوجه کیدلو. هر کله چه دستک ورکول زیات شو نو هغه متوجے شو. او د رحمت دوعالمﷺ په لیدو سره ئے روسته کیدل غوښتل. چه په هغے باندے حضورﷺ په اشاره سره اوفرمایل . تهٔ په خپل ځائے باندے اودریږه . حضرت ابوبکر صدیق د حضورﷺ په دغه شرف امامت بخلو باندے خپل دواړه لاسونه اوچت کړه او د الله تعالی حمد ئے اوکړو. او روسته راغے په صف

ثُمَّ اسْتَأْخَرَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى اسْتَوَى فِي الصَّفِّ وَتَقَدَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَثْبُتَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا كَانَ لِابْنِ أَبِي قُحَافَةَ أَنْ يُصَلِّيَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لِي رَأَيْتُكُمْ أَكْثَرْتُمُ التَّصْفِيقَ مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِهِ فَلْيُسَبِّحْ فَإِنَّهُ إِذَا سَبَّحَ الْتُفِتَ إِلَيْهِ وَإِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ

کښې شریک شو او رسول الله ﷺ ورمخکښې شو او مونځ ئے ورکړو د مانځهٔ نه پس هغهٔ تپوس اوکړو اے ابوبکرؓ ته په خپل ځائے ولاړ ولے پاتے نهٔ شوے ما خو تا ته د اودریدو حکم درکړے وو؟ په دے خبره صدیق اکبرؓ عرض اوکړو. د ابوقحافهؓ په خوئ کښې دومره همت نهٔ وو چه هغه د رسول الله ﷺ امامت اوکړی بیا حضور ﷺ د مقتدیانو په طرف توجه اوکړه او اوئے فرمائیل. تاسو ډیر زیات دستک ورکړو. دستک خو د ښځو دپاره دے. تاسو ته چه کله څهٔ حادثه په مانځهٔ کښې مخے ته راشی نو تاسو خلق سبحان الله وائی: نو امام به ستاسو په طرف متوجه کیږی.[1]

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ

د سهل بن سعدؓ په دے روایت کښې دغه دی. چه حضرت صدیق

---

[1] د دے حدیث شریف نه څو فائدے حاصلے شوے. یعنی ثابتے شوے. اولنے دا چه د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه امامت او په باقی نورو صحابو رضی الله عنهم باندے د هغهٔ فضیلت. دویمه دا چه د امام پخپله تلل او په خلقو کښې مصلحت کول. دریمه دا چه د امام په غیر موجودګئ کښې چا بل چا له خلیفه جوړول په شرط د دے چه د هغهٔ خلافت له پخپله امام غوره کړی او د څهٔ فساد یره نهٔ وی. څلورمه دا چه هغه سړے د خلیفه جوړ کړے شی چه هغه د امامت دپاره د ټولو نه زیات موزون وی. پنځمه دا چه مؤذن به هغه چا ته دا امامت دپاره وائی چه هغه د ټولو نه زیات غوره وی او په دغسے حالت کښې د مؤذن وینا له منل پکار دی. شپږمه دا چه په عمل قلیل کولو سره مونځ نهٔ فاسدیږی. اوومه دا چه په شرط د ضرورت په مانځهٔ کښې یو یا دوه قدمه ورسته کیدل صحیح دی. اتمه دا چه د الله تعالی په زیاتی نعمت میلاویدو باندے لاس اوچتول او د الله جل شانه شکر کول صحیح دی. نهمه دا چه په شرط د ضرورت په مانځهٔ کښې بل طرفته کتل جائز دی. لسمه دا چه د مانځهٔ د پوره کولو دپاره امام بل چا له خپل خلیفه مقرر ولے شی. او دغه مذهب د ټولو اهل حدیثو دے. یولسمه دا چه امام په مانځهٔ کښې د شریکیدو نه پس په حیثیت د تابع او مقتدی د امامت کولو والا ته د هغهٔ د عزت او توقیر څهٔ خبره اوکړی. نو هغه امامت کولو والا له په لحاظ د ادب او عزت د خپل امام چه هغه په موجوده حالت کښې مقتدی وی خبره نهٔ دی منل پکار. ولے چه حقیقی عزت د امام دغه دے. دولسمه دا چه د بزرګانو ادب اوکړے شی. دیارلسمه دا چه کچرے په مانځهٔ کښې څهٔ حادثه وړاندے راشی نو سړے به په اوچت آواز سُبحٰن الله وائی. او ښځه به د خپل ښی لاس په ورغوی سره د ګس لاس د ورغوی په شا باندے دستک اووهی. داسے نهٔ چه د لوبو وغیره په شان لاسونه او ټپوی نو مونځ به فاسد شی. څوارلسمه دا چه په لول وخت کښې مونځ کول مستحب دی. پنځلسمه دا چه تکبیر به هغه وخت کولے شی کله چه د مانځهٔ د کولو دپاره امام تیار شی شپاړسمه دا چه اذان ورکونکے به تکبیر د اقامت کوی. اوولسمه دا چه په شرط د ضرورت صف ماتول مخکښې تلل یا روستو تلل صحیح دی. اتلسمه دا چه امام د هغه سړی اقتداء کولے شی کله چه د هغهٔ نائب یا خلیفه سره هغه امام تکبیر تحریمه ویلے وی. او رسول اکرم د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه په مونځ کولو کښې شرکت کړے وو (نووی رحمه الله)

مَالِكٍ وَفِي حَدِيثِهِمَا فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ يَدَيْهِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَرَجَعَ الْقَهْقَرَى وَرَاءَهُ حَتَّى قَامَ فِي الصَّفِّ.

اکبرؓ د مانځهٔ په حالت کښې خپل دواړه لاس اوچت کړه او د الله تعالی تعریف ئې اوکړو. او بیا اړولے خپے شا طرفته اوګرځیدو. او په صف کښې شریک شو.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ ذَهَبَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْلِحُ بَيْنَ بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ وَزَادَ فَجَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَخَرَقَ الصُّفُوفَ حَتَّى قَامَ عِنْدَ الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ وَفِيهِ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجَعَ الْقَهْقَرَى

د سهل بن سعدؓ بیان دے. چه حضور اکرم ﷺ د بنی عمرو بن عوف د مصالحت دپاره تشریف یوړلو. د هغه خائے نه پس واپسئ هغه د روستو صفونو نه را اووتو او په ورمبی صف کښې راغے اودریدو. او حضرت ابوبکرؓ په شا د روستو په طرف باندے واپس شو[1].

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبُوكَ قَالَ الْمُغِيرَةُ فَتَبَرَّزَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ الْغَائِطِ فَحَمَلْتُ مَعَهُ إِدَاوَةً قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ فَلَمَّا رَجَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيَّ أَخَذْتُ أُهْرِيقُ عَلَى يَدَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ وَغَسَلَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثُمَّ ذَهَبَ يُخْرِجُ جُبَّتَهُ عَنْ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ كُمَّا جُبَّتِهِ فَأَدْخَلَ يَدَيْهِ فِي الْجُبَّةِ حَتَّى أَخْرَجَ ذِرَاعَيْهِ مِنْ أَسْفَلِ الْجُبَّةِ وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثُمَّ تَوَضَّأَ عَلَى خُفَّيْهِ ثُمَّ أَقْبَلَ قَالَ الْمُغِيرَةُ فَأَقْبَلْتُ مَعَهُ حَتَّى نَجِدُ النَّاسَ قَدْ قَدَّمُوا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ فَصَلَّى لَهُمْ فَأَدْرَكَ رَسُولُ

د مغیره بن شعبهؓ بیان دے چه ما د رسول اکرم ﷺ سره یو خائے په جنګ تبوک کښې شرکت اوکړو. یوه ورځ د سحر د مانځهٔ نه وړاندے په دغه مقام د تبوک کښې هغه د رفع حاجت دپاره روان شو. او ما د اوبو لوټه را اخستے د هغهٔ سره وم. د رفع حاجت نه پس هغهٔ تشریف راوړو نو ما د هغهٔ په لاسونو باندے اوبهٔ واچولے هغه ورمبی درے خله لاس ووینځل. بیائے خُله ووینځله. بیائے جبّے لره په لاسونو باندے خیژول غوښتل لیکن د هغے لستونړی تنګ وو. ځکه هغه د جبّے د لاندے نه دواړه لاس را اوویستل او د څنګلو پورې ئے اووینځل او د هغے نه پس ئے په موزو باندے مسحه اوکړه. بیا زهٔ د هغهٔ سره روان شوم هر کله چه مونږ هلته اورسیدو نو څهٔ ګورو چه عبد الرحمٰن بن عوفؓ مونځ ورکولو چناچه په هغه پسے حضور ﷺ یو رکعت د هغه سره اوکړهٔ عبد الرحمٰن بن عوفؓ چه د دواړو رکعتونو کولو نه پس سلام

[1] امام چه کله په حالت د مانځهٔ کښې شاته واپس کیږي. نو قبلے ته په شا کولو سره به نهٔ راځي. بلکه هغه لره د شا په طرف واپس کیدل پکار دي (امام نووی رحمه الله)

اللهِ ﷺ إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ فَصَلَّى مَعَ النَّاسِ الرَّكْعَةَ الْآخِرَةَ فَلَمَّا سَلَّمَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ قَامَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُتِمُّ صَلَاتَهُ فَأَفْزَعَ ذٰلِكَ الْمُسْلِمِينَ فَأَكْثَرُوا التَّسْبِيحَ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ ﷺ صَلَاتَهُ أَقْبَلَ عَلَيْهِمْ ثُمَّ قَالَ أَحْسَنْتُمْ أَوْ قَالَ قَدْ أَصَبْتُمْ يَغْبِطُهُمْ أَنْ صَلَّوُا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا

اوګرځوو. نو څهٔ ګوری چه رسول الله ﷺ د مونځ پوره کولو په خاطر د ویم رکعت دپاره اودریدلے وو. مسلمانان ددے په لیدو سره اوبریدل. او هغوی په کثرت تسبیح لره اولوستله. بیا رحمت عالم ﷺ د مانځهٔ د فراغت نه پس اوفرمایل. تاسوخلقو ښهٔ اوکړل. او په حالت د خوشحالئ ئے اوفرمائیل تاسو خلق په مقرره وخت باندے مونځ لره ادا کوئ.

عَنْ حَمْزَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ نَحْوَ حَدِيثِ عَبَّادٍ قَالَ الْمُغِيرَةُ فَأَرَدْتُ تَأْخِيرَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ

حمزه بن مغیره هم د عباد پشان حدیث بیان کړے دے. د مغیره قول دے ما عبدالرّحمٰن بن عوف لره روسته کیدل غوښتل لیکن رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایلو چه دے په مونځ ورکولو پریږده وه[1].

بَاب تَسْبِيحِ الرَّجُلِ وَتَصْفِيقِ الْمَرْأَةِ إِذَا نَابَهُمَا شَيْءٌ فِي الصَّلَاةِ

باب: په مانځهٔ کښې کهٔ چرے څهٔ حادثه راوړاندے شی نو سړی د تسبیح وائی او ښځے د دستک وهی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ زَادَ حَرْمَلَةُ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَقَدْ رَأَيْتُ رِجَالًا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ يُسَبِّحُونَ وَيُشِيرُونَ

د حضرت ابوهریره بیان دے. چه رحمت عالم ﷺ فرمایلی دی په مانځهٔ کښې سړو لره سبحٰن الله ویل پکار دی. او ښځو لره دستک ورکول پکار دی. حرمله د ابن شهاب دا قول بیان کړے دے. چه د مانځهٔ په حالت کښې ئے تسبیح لوستله او اشاره ئے کوله[2].

بَاب الْأَمْرِ بِتَحْسِينِ الصَّلَاةِ

باب: په شوق د خشوع سره په ښهٔ طريقه د مونځ د

---

[1] : دا پورته حدیث په کتاب الطهارت کښې بیان کړے شوے دے. ددے هر دواړو احادیثو نه ثابته شوه. چه په ښهٔ شان د اودس لوکړےشی. او یو سړی لره بل هم اودس کولے شی. دغسے د امام وخت روسته والی سره بل امام جوړول او بیا د هغهٔ شاته امام وخت مونځ کولے شی. بهر حال مونځ په مقرره وخت باندے کول ضروری دی. کچرے د مقرره امام په راتلو کښې تاخیر وی. نو د هغه خلیفه جوړولے شی.

[2] : بشرط ضرورت د مانځهٔ په دوران سړو لره تسبیح لوستل او اشاره کول او زنانو لره دستک ورکول جائز دی. په ے سره مونځ نه فاسدیږی. د دستک ورکولو ترکیب دادے. چه د ښی لاس په ورغوی باندے به د ګس لاس د ورغوی شا په زوره اووهی. (از مترجم اردو کتاب)

وَإِتْمَامِهَا وَالْخُشُوعِ فِيهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ يَوْمًا ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ يَا فُلَانُ أَلَا تُحْسِنُ صَلَاتَكَ أَلَا يَنْظُرُ الْمُصَلِّي إِذَا صَلَّى كَيْفَ يُصَلِّي فَإِنَّمَا يُصَلِّي لِنَفْسِهِ إِنِّي وَاللهِ لَأُبْصِرُ مِنْ وَرَائِي كَمَا أُبْصِرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَلْ تَرَوْنَ قِبْلَتِي هَا هُنَا فَوَاللهِ مَا يَخْفَى عَلَيَّ رُكُوعُكُمْ وَلَا سُجُودُكُمْ إِنِّي لَأَرَاكُمْ وَرَاءَ ظَهْرِي

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ أَقِيمُوا الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ بَعْدِي وَرُبَّمَا قَالَ مِنْ بَعْدِ ظَهْرِي إِذَا رَكَعْتُمْ وَسَجَدْتُمْ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتِمُّوا الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ بَعْدِ ظَهْرِي إِذَا مَا رَكَعْتُمْ وَإِذَا مَا سَجَدْتُمْ وَفِي حَدِيثِ سَعِيدٍ إِذَا رَكَعْتُمْ وَإِذَا سَجَدْتُمْ

کولو حکم

د حضرت ابوهریره ؓ بیان دے. چه رسول الله ﷺ اوفرمایل اے فلانیه! ته خپل مونځ په ښه شان سره ولے نه ادا کوے؟ ولے مونځ کونکی ته دا نه ښکاره کیږی چه هغه په څه شان سره مونځ کوی؟ حالانکه مونځ کونکے د خپلو فائدو دپاره مونځ کوی. او قسم په خدائے چه زهٔ په څهٔ شان د مخکښ نه وینم دغه شان شا ته هم لیدل کولے شم

حضرت ابوهریره ؓ د رسول الله ﷺ ارشاد بیان کړو ستاسو خیال دے چه زهٔ صرف د قبلے په طرف ګورم. حالانکه په خدائے قسم دے. څمانه ستاسو رکوع او سجده پټ نهٔ دی. زهٔ تاسو لره د خپل شا د طرفنه خامخا وینم.

حضرت انس ؓ د رسول الله ﷺ ارشاد بیان کړے دے. رکوع او سجود په ښهٔ شان سره ادا کوئ. او تاسو چه کله رکوع او سجده کوء نو په خدائے قسم! چه زهٔ د شانه یا د خپل شا د طرفنه تاسو لره وینم

د حضرت انس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمایل خلقو! تاسو خپلو رکوع او سجدو لره په ښهٔ شان سره کوئ او هر کله چه تاسو رکوع او سجده کوئ نو په خدائے قسم! زهٔ د روستو نه ستاسو رکوع او سجدو لره وینم[1].

---

[1] الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم لره د روستو نه هم د لیدلو په داسے شان قوت ورکړے وو. لکه څنګه چه نے مونږ لره په مخے سره د لیدو طاقت راکړے دے. د روستو نه یعنی شا ته څیزونو لره دلیدو قوت په طور د خرقِ عادات انسانی هغهٔ ته ورکړی شوی وو. او دا امر خلاف شرعه یا مخالف د عقل نه نهٔ دے. نن صبا په زرګونو میله لرے څیزونه معمولی خلق هم لیدلی شی. او هر کله چه رسالت ماٰب صلی الله علیه وسلم د شا ته څیزونو لره پخپله لیدل نو دا عین شریعت دے چه د هغے منل واجب دی. د امام احمد بن حنبل رحمه الله او نورو لویو علماؤ قول دے . چه په شا د روستو نه د لیدلو مطلب حقیقتًا لیدل دی ، او دا په شا سره د روستو نه لیدل د مانځهٔ سره مخصوص وو لکه چه په احادیثو کښ صراحت دے. ورسره ددے حدیث نه ثابته شوه چه مونځ د په اطمینان سره ادا کړے شی. او په شرط د ضرورت د الله تعالی قسم خوړل جائز دی. ددے نه علاوه بے ضرورته قسم نهٔ شی خوړلے.

بَابُ تَحْرِيمِ سَبْقِ الْإِمَامِ بِرُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ وَنَحْوِهِمَا

عَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي إِمَامُكُمْ فَلَا تَسْبِقُونِي بِالرُّكُوعِ وَلَا بِالسُّجُودِ وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالِانْصِرَافِ فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِي وَمِنْ خَلْفِي ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ رَأَيْتُمْ مَا رَأَيْتُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا قَالُوا وَمَا رَأَيْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ رَأَيْتُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَا يَأْمَنُ الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ فِي صَلَاتِهِ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ صُورَتَهُ فِي صُورَةِ حِمَارٍ

باب د امام نه مخکښې رکوع او سجده کول حرام دي

د حضرت انسؓ بیان دے چه رسول اکرم ﷺ یوه ورځ د مونځ ورکولو نه فوراً روستو زمونږ طرفته متوجه شو او اوئے فرمایل خلقو زهٔ ستاسو امام یم. دد دے دپاره خما نه مخکښې رکوع، سجده ، قومه او سلام مهٔ کرځوئ. زهٔ د مخکښې او روستو نه تاسو لره وینم او قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په قبضه کښې خما روح دے. کوم څیزونه چه زهٔ وینم کهٔ چرے تاسو هغه څیزونه اوليدل نو خاندئ به کم او ژاړئ به ډیر. خلقو تپوس اوکړو یا رسول الله ﷺ تا څهٔ لیدلی دی؟ ارشاد اوشو. چه ما جنت او دوزخ لیدلی دی[1].

حضرت ابوهریرهؓ د رسول اکرم ﷺ ارشاد بیان کړے دے چه د امام نه مخکښې د سجدے نه چه څوک سَر اوچتوی نو الله تعالی به بے شکه د هغهٔ سر د خر د سر پشان کړی.

د حضرت ابوهریرهؓ بیان دے. چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی څوک چه د امام نه مخکښې د سجدے نه خپل سر اوچتوی. نو د هغهٔ نه یریدل پکار دی چه الله تعالی جل شانه به د هغهٔ شکل بدل کړی او د خر پشان به ئے کړی[2].

---

[1] په مقتدی باندے واجب او فرض دی چه هغه په مانځهٔ کښې د امام نه مخکښې یو کار نهٔ کوی. ګنی د هغهٔ دغه فعل حرام دے.

[2] جا چه د انسانی پیدائش او د فطرت د تولو کارونو دپاره معمولی شان هم غور او فکر کړے دے هغه پوهه دے. چه د انسان نه خر لو د خر نه انسان جوړول د الله تعالی په نیز څهٔ ګران نهٔ دی. البته د عقل راندهٔ او په زړهٔ او دماغو کمزوری او په مادیت باندے مرِ خلق دے کمزوری لره د امکان نه بهر ګنړی او حقیقت هم دغه دے. چه په هغوی کښې د غور و فکر ماده شتے هډونه او د عقل او شعور نه بے برخے دی. د هغوی سَر پروردګار د خر پشان کړے دے . چه هغه په ظاهر انسان په نظر راځی. لیکن د زړهٔ او دماغو سر په مد نظر هغه د خر نه هم زیات بد ترین دی (العیاذ بالله)

بَاب النَّهْيِ عَنْ رَفْعِ الْبَصَرِ إِلَى السَّمَاءِ فِي الصَّلَاةِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فِي الصَّلَاةِ أَوْ لَا تَرْجِعُ إِلَيْهِمْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ رَفْعِهِمْ أَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِي الصَّلَاةِ إِلَى السَّمَاءِ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ

باب : په مانځهٔ کښې آسمان طرف ته د کتلو نه ممانعت

جابر بن سمرهؓ د رسول اکرم ﷺ ارشاد نقل کړے دے. چه کوم خلق په مانځهٔ کښې د آسمان په طرف ګوری . هغه د ددے حرکت نه راواوړی ګنی د هغوی سترګے به لاړ شی (یعنی ختم به شی)

حضرت ابوهریرهؓ د رحمت دوعالم ﷺ ارشاد بیان کړے . چه خلق دپه مانځهٔ کښې د آسمان په طرف نه ګوری . ګنی د هغوی د بینایۍ طاقت به ختم کړے شی[1].

بَاب الْأَمْرِ بِالسُّكُونِ فِي الصَّلَاةِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْإِشَارَةِ بِالْيَدِ وَرَفْعِهَا عِنْدَ السَّلَامِ وَإِتْمَامِ الصُّفُوفِ الْأُوَلِ وَالتَّرَاصِّ فِيهَا وَالْأَمْرِ بِالِاجْتِمَاعِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا لِي أَرَاكُمْ رَافِعِي أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ اسْكُنُوا فِي الصَّلَاةِ قَالَ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَرَآنَا حَلَقًا فَقَالَ مَالِي

باب : په مانځهٔ کښې په آرام اوسیدل، په لاس سره اشاره کول یا د سلام په وخت د لاس د اوچتولو نه ممانعت ، دغسے د مخکښنی صفونو پوره کول او د یو بل سره د جُخت اودریدو احکام

د جابر بن سمرهؓ بیان دے . چه رسول الله ﷺ زمونږ خواله تشریف راوړو او ئے فرمایل . زهٔ تاسو لره په دے شان په لاس اوچتولو وینم لکه چه د شریر اسونو لکۍ وی. تاسو خلق په مانځهٔ کښې څهٔ حرکت مهٔ کوئ. بیائے یو ځل مونږ په یوه غونډه کښې اولیدو نو اوئے فرمایل

[1] : ذات مقدس پروردګار عالم په اوو آسمانو دپاسه د عرش باندے مستوی دے. په دے بناء باندے د مونځ کونکو دپاره ضروری دی چه هغه د په مانځهٔ کښې خپل نظرونه لاندے ساتی. په مانځهٔ کښې د آسمان په طرف کتل په اجماع سره ممنوع دی. البته ددعا په حالت کښې د آسمانونو په طرف د کتلو په باره کښې قاضی عیاض رحمه الله د علماؤ په خپلو کښې اختلاف بیان کړے دے. قاضی شریح وغیره په حالت ددعا هم د آسمان په طرف نظر اوچتولو لره مکروه ویلی دی. ددے نه علاوه د جمهور علماؤ بیان دے . چه ددعا په حالت کښې د آسمان په طرف کتل جائز دی ولے چه څنګه چه د مانځهٔ دپاره قبله کعبه د څلورو طرفونو ده . دغه شان ددعا دپاره آسمان ته قبله ویلے شوے ده. څکه د آسمان په طرف لاس اوچتولو سره د الله تعالی نه دُعا غوښتلے شی او هرے دُعا لره صرف الله تعالی قبوله او بامراده کوی.

أَرَاكُمْ عِزِينَ قَالَ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا قَالَ يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ

تاسو خلق جدا جدا ولې يئ؟ بيا يو خل هغه لوفرمائيل تاسو خلق په داسې شان صفونه اودروئ لکه څنګه چه په بارګاه الهي کښې فرښتې صف تړلې اوسيږي. تاسو خلق د هر څۀ نه وړاندې وړمبې صف پوره کوئ. او په صف کښې په جمع سره اودريدل کوئ[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الْجَانِبَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَامَ تُومِئُونَ بِأَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ إِنَّمَا يَكْفِي أَحَدَكُمْ أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عَلَى فَخِذِهِ ثُمَّ يُسَلِّمُ عَلَى أَخِيهِ مَنْ عَلَى يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ

د جابر بن سمرهؓ بيان دے. چه د رسول الله ﷺ سره چه به کله مونږ خلقو مونځ کولو نو د مونځ په ختميدو باندې به مونږ ښي او ګس طرفته د السلام عليکم ورحمة الله ويلو سره په لاس سره اشاره هم کوله ددې په ليدو سره حضور ﷺ ارشاد اوفرمايلو. تاسو خلق په خپل لاس سره داسې اشاره کوئ لکه شرير اسونه چه لکئ خوزوي. تاسو لره دغه کافي ده چه تاسو په قعده کښې په خپلو ورنونو باندې لاس ايخي وي او ښئ او ګس طرفته مخ ګرځوئ او السلام عليکم ورحمة الله وايئ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنَّا إِذَا سَلَّمْنَا قُلْنَا بِأَيْدِينَا السَّلَامُ عَلَيْكُمْ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَنَظَرَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا شَأْنُكُمْ تُشِيرُونَ بِأَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ إِذَا سَلَّمَ أَحَدُكُمْ

د جابر بن سمرهؓ بيان دے. مونږ خلقو د رسالت مآب ﷺ سره مونځ کولو. نو د مانځۀ په ختم کيدو باندې به مونږ د السلامُ عليکم ويلو سره په لاس سره اشاره هم کوله ددې په ليدو سره رحمت دوعالم ﷺ اوفرمايل. تاسو لره دا څۀ شوي دي؟ تاسو په خپلو لاسونو سره داسې اشاره کوئ لکه چه د شريرو اسونو لکئ دي. ستاسو نه چه هر کله څوک مونځ ختم کړي نو د خپل رور طرفته مخ کوئ او صرف په ژبه سره السلام عليکم

[1] د صفونو پوره کولو مطلب دادے. چه د ټولو نه مخکښې اول صف پوره کړے شي او د هغې نه پس دويم او بيا دريم وغيره. يعني دګومې پورې چه اولنے صف پوره شوے نۀ وي. د هغه وخته پورې دِ دويم صف نۀ شروع کوي. ورسره د مانځۀ په صفونو کښې په دې شان سره اودريدل پکار دي. چه د دوو کسانو په مينځ کښې څۀ خائے خالي پاتې نۀ شي. د ادب سره په يو قطار کښې برابر اودريدل کوئ. په دې حديث شريف کښې چه دلاسونو اوچتولو چه کوم ممانعت دے. د هغې نه مراد دادے چه د سلام ګرځولو په وخت به لاس اوچتوي. لکه چه په دويم روايت کښې د هغې تصريح موجود ده. ددے نه رکوع له د تلو او د رکوع نه د سر اوچتولو په وخت د رفع يدين ممانعت مقصود نۀ دے. ولې چه هغه مستحب بلکه د رسول الله سنت دي.

فَلْيَلْتَفِتْ إِلَى صَاحِبِهِ وَلَا يُومِئُ بِيَدِهِ

ورحمة الله وايي او په لاس سره اشاره نۀ کوي[1].

بَاب تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ وَإِقَامَتِهَا وَفَضْلِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ مِنْهَا وَالِازْدِحَامِ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ وَالْمُسَابَقَةِ إِلَيْهَا وَتَقْدِيمِ أُولِي الْفَضْلِ وَتَقْرِيبِهِمْ مِنْ الْإِمَامِ

باب: د صفونو د برابرولو ، د رومبنی صف فضيلت او په رومبنی صف باندے ګڼره او د مخکښې کيدو او اصحاب فضل لره مخکښې کول او امام ته د نزدے کولو احکام

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ وَيَقُولُ اسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ فَأَنْتُمْ الْيَوْمَ أَشَدُّ اخْتِلَافًا

د ابو مسعودؓ بيان دے. چه د مانځۀ دپاره رسول اکرم ﷺ زمونږ په اوګو باندے لاس رابنکودل او فرمايل به ئے برابر اودريږئ او مخکښې روستو مۀ کيږئ ګنی ستاسو په زړونو کښې به کوږوالے پيوځي دغسے ماته نزدے به هغه کسان ولاړ وی. چه هغه ډير پوهه او عقلمند دی. او بيا چه هغوی ته نزدے وی. دد ے نه پس ابومسعودؓ اووے. نن پتاسو خلقو کښې ډير اختلافات رابنکاره شوی دی[2].

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثَلَاثًا وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ

د عبد الله ابن مسعودؓ بيان دے. چه حضور اکرم ﷺ اوفرمايل ماته نزدے به هغه خلق ولاړ وی. چه هغه د عقل او شعور مالکان وی. د هغے نه پس درميانه خلق بيا د هغوی نه پس نور خلق. دغسے د بازاری حرکاتو نه تاسو خلق پرهيز کوئ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ سَوُّوا صُفُوفَكُمْ فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ

د حضرت انسؓ بيان دے. چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی. تاسو خلق خپل صفونه برابر پوره ساتئ. ولے چه په صف بندئ سره د

---

[1] : د مانځۀ د سلام ګرځولو په وخت صرف السّلام عليکم ورحمة الله ويل پکار دی. او په لاس سره څۀ اشاره کول نۀ دی پکار.

[2] : دد ے حديث نه ثابته شوه چه امام ته نزدے به هغه خلق ولاړ وی. چه هغه خاوندان د عقل او شعور او د نورو نه غوره وی. ځکه چه امام په وخت د ضرورت چا لره خليفه مقررولے شی او که د امام نه هير يا خطا راشی نو د هغۀ د اصلاح کولو اهل وی. او د مانځۀ طريقه ئے ايزده کړے او نوروته هم ايزده کولے شی. او د هغے نه پس به هغه خلق ولاړ وی. چه هغه د دومره زيات فضيلت حامل نۀ وی. او بيا به د دغه درميانه درجے والو نه پس نور خلق ولاړ وی. ښکاره خبره ده چه دا حکم صرف د مانځۀ دپاره خاص نۀ دے. بلکه په هر مجلس کښې دے د خاوندانو د فضل او کمال او خاوندانو د علم عزت اوکړے شی.

مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ

مانځهٔ تکمیل کیږی.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتِمُّوا الصُّفُوفَ فَإِنِّي أَرَاكُمْ خَلْفَ ظَهْرِي

د حضرت انسؓ بیان دے. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. تاسو خلق خپل صفونه پوره کوئ ولے چه زهٔ تاسو لره د روستو نه هم وینمه

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ أَقِيمُوا الصَّفَّ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّ إِقَامَةَ الصَّفِّ مِنْ حُسْنِ الصَّلَاةِ

د همّام بیان دے. چه حضرت ابوهریرهؓ د څو حدیثونو د بیانولو سره مونږ ته اووے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. په مانځهٔ کښې صفونه نیغه وئ ولے چه په ښکلی صف بندئ سره مونځ ښهٔ ښکلے معلومیږی[1].

عَنِ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِﷺ يَقُولُ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ

حضرت نعمانؓ وائی. چه ما د رسول اکرمﷺ فرمان اوریدلے دے. چه تاسو خپل صفونه نیغ ساتئ گنی الله تعالی به په تاسو کښې مخالفت پیدا کړی.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا حَتَّى كَأَنَّمَا يُسَوِّي بِهَا الْقِدَاحَ حَتَّى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتَّى كَادَ يُكَبِّرُ فَرَأَى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ فَقَالَ عِبَادَ اللهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ

د نعمان بن بشیرؓ بیان دے. چه رسول اللهﷺ زمونږ صفونه برابرؤول تردے پورے چه داسے معلومیده چه هغهٔ هغوی لرهٔ د غشی د لرگی پشان برابر کړل او دا سلسله جاری وه د هغه وخت پورے چه هغه پوهه شو چه مونږ خلقو دغے خبرے لره د هغهٔ نه معلومه کړےده. بیا یوه ورځ هغه را اووتو. نو اودریدو چه هغه تکبیر ویلو. په دے کښې هغه یو سړے اولیدو چه د هغهٔ سینه د صف نه وتلے وه. نو هغهٔ اوفرمایل آے د الله بندیگانو! تاسو خوا مخواه خپل صفونه برابروئ گنی الله تعالی به ستاسو په مخونو کښې مخالفت اوغورځوی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا

د حضرت ابوهریرهؓ بیان دے. چه رسول اکرمﷺ فرمایلی دی. د اذان او د ړومبی صف ثواب کهٔ چرے خلقو ته معلوم وے. نو هغوی به خسنړے ویستلو. او کهٔ چرے د اول وخت د مونځ کولو د فضیلت نه خلق خبر وے. نو د یو بل نه به وړاندے کیدل او کهٔ چرے د

[1]: د وجوه ترجمه بعضے خلقو دا کړے ده چه اللهؓ به ستاسو شکلونه بدل کړی. یعنی تاسو به مسخ کړی والله اعلم (نووی رحمه الله)

فِي التَّهْجِيرِ لَاسْتَبَقُوا إِلَيْهِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا

ماسختن او سحر د فضیلت نه خبر وے. نو ددے دواړو دپاره به كناتو سره خوئيدل[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي أَصْحَابِهِ تَأَخُّرًا فَقَالَ لَهُمْ تَقَدَّمُوا فَأْتَمُّوا بِي وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ

د حضرت ابو سعید خدری ؓ بیان دے چه رسول اکرم ﷺ صحابه کرامو ؓ لره په روستی صف کښ اولیدل نو اوئے فرمایل. ماته نږدے راشئ او رومبے صف پوره کړئ بیا دویم صف والا به ستاسو تابعداری کوی. او کوم خلق چه روستو پاتے کیږی نو الله تعالی به هغوی لره په خپل رحمت کښ هم روسته کړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ تَعْلَمُونَ أَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ لَكَانَتْ قُرْعَةً وَقَالَ ابْنُ حَرْبٍ الصَّفِّ الْأَوَّلِ مَا كَانَتْ إِلَّا قُرْعَةً

د حضرت ابوهریره ؓ بیان دے. چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی. کۀ چرے تاسو رومبی صف په غوره والی پوهه وے . نو په هغے کښ د شرکت دپاره به مو خسنړے ويستلو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا وَشَرُّهَا آخِرُهَا وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي الدَّرَاوَرْدِيَّ عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د حضرت ابوهریره ؓ بیان دے. چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی. د سړو په صفونو کښ د ټولو نه بهتر رومبے صف دے. او د ټولو نه ناکاره آخری صف دے. او د ښځو دپاره د ټولو نه ناکاره صف رومبے صف دے (ځکه چه د سړو دے) او غوره صف روستنے دے (ځکه چه د سړو صفونه دوی نه لرے وی)[2].

بَابُ أَمْرِ النِّسَاءِ الْمُصَلِّيَاتِ وَرَاءَ الرِّجَالِ أَنْ لَا يَرْفَعْنَ رُءُوسَهُنَّ مِنَ السُّجُودِ حَتَّى يَرْفَعَ الرِّجَالُ

باب: ښځے کۀ چرے د سړو نه شاته مونځ کووی نو د سړو د سر د اوچتولو پورے دِ هغوی خپل سر نۀ اوچتوی

---

[1]: د سحر او د ماسخوتن د مانځۀ فضیلت په دے وجه زیات دے. چه په دے دواړو وختونو کښ د خوب غلبه وی. والله اعلم. (نووی رحمه الله)

[2]: په جماعت کښ کۀ چرے صرف ښځے وی. نو د سړو پشان رومبے صف د هغوی دپاره غوره دے. د رومبی صف نه هغه صف مراد دے چه هغه د امام شاته وی عام ددے نه چه دغه د یوے غاړے نه د بلے غاړے پورې برابر وی یا په مینځ کښ دځۀ حائل کیدو په وجه سره ناقص وی لو یا خو ددغه صف بندئ نه مخکښ څۀ سړی په دغه مقام باندے موجود وی یا د صف بندئ جوړولو نه پس راغلی وی (امام نووی رحمه الله)

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ الرِّجَالَ عَاقِدِي أُزُرِهِمْ فِي أَعْنَاقِهِمْ مِثْلَ الصِّبْيَانِ مِنْ ضِيقِ الأُزُرِ خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قَائِلٌ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ لاَ تَرْفَعْنَ رُءُوسَكُنَّ حَتَّى يَرْفَعَ الرِّجَالُ

د سهل ؓ بیان دے مالیدلی دی. چه د کپړے د کمیدو په وجه سره به خلقو خپل تهبند پخپله غاړه کښې غوټه کوو. او په رسول الله ﷺ پسے به ئے مونځ کوو. چه په دے باندے چا د رسول الله ﷺ دا حکم بیان کړو. اے بیبیانو! د کومے پورے چه سرو د سجدے نه سرونه اوچت کړی نو وی د هغه وخته پورے تاسو هم د سجدے نه سرمهٔ اوچتوئ[1].

بَابُ خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ إِذَا لَمْ يَتَرَتَّبْ عَلَيْهِ فِتْنَةٌ وَأَنَّهَا لاَ تَخْرُجُ مُطَيَّبَةً

باب: ښځو لره جماعتونو ته د تلو اجازت خو چه د دے څهٔ فتنه نهٔ پیدا کیږی. او خوش بوئی لګولے بهر ته د تلو نه ممانعت

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ إِذَا اسْتَأْذَنَتْ أَحَدَكُمُ امْرَأَتُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلاَ يَمْنَعْهَا

د حضرت عبد الله بن عمر ؓ بیان دے. چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی ستاسو ښځے چه کله جماعت ته تلل غواړی نو هغوی مه منع کوئ.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لاَ تَمْنَعُوا نِسَاءَكُمُ الْمَسَاجِدَ إِذَا اسْتَأْذَنَّكُمْ إِلَيْهَا قَالَ فَقَالَ بِلاَلُ بْنُ عَبْدِ اللهِ وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ قَالَ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ فَسَبَّهُ سَبًّا سَيِّئًا مَا سَمِعْتُهُ سَبَّهُ مِثْلَهُ قَطُّ وَقَالَ أُخْبِرُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُ وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ

سالم د عبد الله بن عمر ؓ بیان نقل کړے دے. چه ما د رسول اکرم ﷺ فرمان اوریدلے دے. ستاسو ښځے چه هر کله جماعت ته تلل غواړی. نو هغوی د جماعت د تلو نه مهٔ منعه کوئ. بلال بن عبد الله د ابن عمر ؓ د ژبانی حدیث د اوریدو نه پس اووے. په خدائے مې د قسم وی چه مونږ به هغه ښځو لره منع کوو. په دے باندے عبد الله ؓ هغهٔ ته دومره بد کنځل اوکړه چه هغه تر اوسه پورے د هغهٔ نه اوریدلے شوی نهٔ وو. بیا د هغے نه پس ئے اوفرمایل زهٔ خو د رسول الله ﷺ حدیث تاسو ته ښایم او تهٔ وائے چه مونږ به ښځو لره منع کوو[2].

---

[1] د کپړے د ورکوالی په وجه سره بعضے صحابه کرامو رضی الله عنهم به د ستر د کھولاویدو د یرے نه تهبند په مری پورے غوټه کولو ددے دپاره ښځو ته حکم اوشو چه د چا سری په ستر باندے د چا ښځے نظر پرے نهٔ اوخی.

[2] په خپل ذاتی رائے سره د حدیث شریف مقابله نهٔ دی کول پکار. بعضے خلق خپله ذاتی رائے او قیاس لره پیش کوی (نعوذ بالله) د مسلمان کار دادے چه هغه د رسول اکرم ﷺ د حکم یا د فعل په مقابله کښې د چا بل چا د فعل او قول سند را نهٔ وړی ګنی نو دا بے ادبی او شیطانی کاری دے. چه په هغے کښې د کفر یره لګیدلی ده. زمونږ اعتقاد او عمل دادے. چه د حضور صلی الله علیه وسلم د حکم او

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَمْنَعُوْا إِمَاءَ اللهِ مَسَاجِدَ اللهِ

د حضرت عبد الله بن عمرؓ بیان دے چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی د الله تعالی وینځو لره د الله جماعتونو ته د تللو نه مه منع کوئ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا اسْتَأْذَنَكُمْ نِسَاؤُكُمْ إِلَى الْمَسَاجِدِ فَأْذَنُوْا لَهُنَّ

حضرت عبد الله بن عمرؓ ویلی دی چه ما د رسول اکرم ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی وو. چه هر کله ستاسو ښځې جماعت ته د تلو د پاره ستاسو نه اجازت غواړي. نو هغوی ته اجازت ورکوئ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوا النِّسَاءَ مِنَ الْخُرُوْجِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِاللَّيْلِ فَقَالَ ابْنٌ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ لَا نَدَعُهُنَّ يَخْرُجْنَ فَيَتَّخِذْنَهُ دَغَلًا قَالَ فَزَبَرَهُ ابْنُ عُمَرَ وَقَالَ أَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُوْلُ لَا نَدَعُهُنَّ

حضرت عبد الله بن عمرؓ چه هر کله د رسول الله ﷺ دا حدیث بیان کړو. چه تاسو خلق خپلو ښځو لره د شپے پو وخت د جماعت د تلو نه مه منع کوئ نو د هغهٔ خوئ اووے. چه مونږ خو به هغوی منع کوو. د دے د پاره چه هغه مکراو دهوکه نهٔ کوی. په دے باندے هغهٔ خپل خوی ته د بدو ردو ویلو نه پس اووے زهٔ خو د رسول الله ﷺ حکم اوروم او تهٔ د هغے مخالفت کوے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ائْذَنُوْا لِلنِّسَاءِ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسَاجِدِ فَقَالَ ابْنٌ لَهُ يُقَالُ لَهُ وَاقِدٌ إِذًا يَتَّخِذْنَهُ دَغَلًا قَالَ فَضَرَبَ فِي صَدْرِهِ وَقَالَ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُوْلُ لَا

د ابن عمرؓ بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی تاسو خپلو ښځو لره د شپے په وخت جماعت ته د تلو اجازت ورکوئ په دے خبره باندے د هغهٔ خوی چه نوم ئے واقد وو جواب ورکړو. هغوی به هلته ځی او مکر او فریب به کوی دد دے په اوریدو سره عبد الله بن عمرؓ هغهٔ لره په سینه باندے ګزار ورکړو او اوئے فرمایل. چه زهٔ تا ته حکم د سردار دو عالم ﷺ بیانوم او تهٔ وائے چه هغوی نهٔ شی تلے.

عَنْ بِلَالِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوا النِّسَاءَ حُظُوْظَهُنَّ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِذَا اسْتَأْذَنُوْكُمْ فَقَالَ بِلَالٌ وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ

بلال بن عبد اللهؒ د خپل والد د ژبے د حضور اکرم ﷺ دا حکم بیان کړے دے په شرط د حصول اجازت تاسو خلق خپلو ښځو لره جماعت ته د ثواب حاصلولو د پاره د تلو اجازت ورکړئ چه په دے خبره باندے ما اووے. په خدائے م د قسم وی مونږ خو هغوی لره

فعل په مقابله کښې د پوره دنیا د قول او فعل څهٔ حقیقت نشته دے. الله تعالی د سرهٔ د ټولو مسلمانانو خاتمه په خیر سره د هر وخت توفیق را کړی "طاعت غیر محمد نهین مسلک میرا"

فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ أَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُ أَنتَ لَنَمْنَعُهُنَّ

منع کوو. په دے باندے ځما والد محترم اوفرمایل مونږ خو د رسول الله ﷺ حکم بیان کړے دے او ته د هغے مخالفت کوے.

عَنْ زَيْنَبَ الثَّقَفِيَّةِ كَانَتْ تُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْعِشَاءَ فَلَا تَطَيَّبْ تِلْكَ اللَّيْلَةَ

حضرت زینبؓ د رسول اکرم ﷺ حدیث بیان کړے ویلی دی. چه رحمتِ دو عالم ﷺ فرمایلی دی. کومه بی بی چه هر کله د ماسخوتن د مانځهٔ دپاره جماعت ته راتلل غواړی. نو هغه دِ په دغه شپه خوشبوئی نهٔ لګوی.

عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ قَالَتْ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ فَلَا تَمَسَّ طِيبًا

د عبد اللهؓ د ښځے حضرت زینبؓ بیان دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. کومه ښځه چه جماعت ته راتلل غواړی نو هغه دِ په خوشبوئۍ باندے لاس هم نهٔ لګوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُورًا فَلَا تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ

د حضرت ابوهریرهؓ بیان دے چه رسول اکرم ﷺ فرمایلی دی. کومے ښځے ته چه د څهٔ خوشبوئۍ لُوګے اورسی. نو هغه دِ زمونږ سره د ماسخوتن په مانځهٔ کښ نهٔ شریک کیږی.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ لَوْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ لَمَنَعَهُنَّ الْمَسْجِدَ كَمَا مُنِعَتْ نِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ فَقُلْتُ لِعَمْرَةَ أَنِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ مُنِعْنَ الْمَسْجِدَ قَالَتْ نَعَمْ

د حضرت عائشے صدیقےؓ بیان دے. چه رسول الله ﷺ کهٔ د موجوده زمانے ډوَل ډال کولو والا ښځے لیدلے وے. نو هغه به هم د یهودیانو په شان جماعت ته د داخلیدو نه ممانعت کړے وو. یحیٰی بن سعید تپوس اوکړو. اے عمره! ولے د بنی اسرائیلو ښځے جماعت ته د راتلو نه منع کړے شوے وے. هغوی اوے. آو[1].

بَابُ التَّوَسُّطِ فِي الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلَاةِ

باب: کله چه د فساد یره وی نو په جهری

[1] دپورته حدیث نه صفا ظاهره ده چه ښځو لره جماعتونو ته د مانځهٔ دپاره پریخودل پکار دی. لیکن ځان سنبال کړی او خوشبوئی لګوی او آواز دار کالی اچولو سره به جماعت ته نهٔ ځی. چه هغے سره د فتنے یره ده او د فساد بوئ تر راځی. ورسره دا هم ثابته شوه. چه د پیغمبر په زمانه کښ به ښځے بلا مزاحمت جماعتونو ته تلے. او د حضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها بیان ددے امر دلیل دے. چه ډوَل ډال وغیره کولو والا ښځو لره د کور نه بهر په یو ځائے باندے هم قدم ایخودل نهٔ دی پکار. یاد ساتئ چه هر کله نیت بد وی نو هر مباح او مستحب کار هم منع کیدے شی.

الْجَهْرِيَّةِ بَيْنَ الْجَهْرِ وَالْإِسْرَارِ إِذَا خَافَ مِنَ الْجَهْرِ مَفْسَدَةً

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا قَالَ نَزَلَتْ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَارٍ بِمَكَّةَ فَكَانَ إِذَا صَلَّى بِأَصْحَابِهِ رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْآنِ فَإِذَا سَمِعَ ذَلِكَ الْمُشْرِكُونَ سَبُّوا الْقُرْآنَ وَمَنْ أَنْزَلَهُ وَمَنْ جَاءَ بِهِ فَقَالَ اللهُ تَعَالَى لِنَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ فَيَسْمَعَ الْمُشْرِكُونَ قِرَاءَتَكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا عَنْ أَصْحَابِكَ أَسْمِعْهُمُ الْقُرْآنَ وَلَا تَجْهَرْ ذَلِكَ الْجَهْرَ وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا يَقُولُ بَيْنَ الْجَهْرِ وَالْمُخَافَتَةِ

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا قَالَتْ أُنْزِلَ هَذَا فِي الدُّعَاءِ

بَابُ الِاسْتِمَاعِ لِلْقِرَاءَةِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ جِبْرِيلُ بِالْوَحْيِ كَانَ مِمَّا يُحَرِّكُ بِهِ لِسَانَهُ وَشَفَتَيْهِ فَيَشْتَدُّ عَلَيْهِ فَكَانَ ذَلِكَ يُعْرَفُ مِنْهُ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ

مونځ کښې هم قرأت په درمیانه آواز سره ویلے شي

حضرت عبد الله بن عباس ؓ ویلي دي په درمیانه آواز سره د مانځۀ لوستو آیت په مکه مکرمه کښې هغه وخت نازل شولو. کله چه رسول الله ﷺ د یرے د وجے نه په یو کور کښې پټ شوے وو. واقعه داده چه مشرکانو به کله د قرآن کریم آواز واوریدو. نو قرآن کریم ، الله تعالی، او رسول اکرم ﷺ ته به ئے کنځل کول. ځکه الله تعالی خپل نبي ﷺ ته اوفرمایل. چه تۀ دومره په زور سره قرآن کریم مۀ لوله چه مشرکان ئے اوري. او دومره رو ئے هم مۀ لولئ چه صحابه ؓ ئے نۀ اوري. بلکه په درمیانی آواز سره قرآن لولئ.

د حضرت عائشے صدیقے ؓ بیان دے چه دا حکم الهی وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا ددعا په باره کښې نازل شوے دے (یعنی دُعا نۀ په ډیر زور سره غواړئ نۀ په ډیر رو سره)

باب : د قراءت د اوریدو حکم

د حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دے. د الله تعالی د فرمان په باره کښې چه- خپلے ژبے لره مۀ خوزوه - هر کله چه جبرائیل علیه السلام به وحي راوړه نو رسول الله ﷺ به ددے یرے نه چه چرته هیره نۀ شي. د جبرائیل علیه السلام د الفاظو سره به ئے خپله ژبه او شونډے خوزولے او هغه به ئے یادوله په دے شان ادا کولو کښې به هغه ته تکلیف وو. ځکه الله تعالی دا حکم ورکړو. چه تۀ مشقت مۀ برداشت کوه په مونږ باندے

أَخذَهُ إِنَّ عَلَيْنَا جَمعَهُ وَقُرآنَهُ إِنَّ عَلَيْنَا أَن نَجمَعَهُ فِي صَدرِكَ وَقُرآنَهُ فَتَقرَؤُهُ فَإِذَا قَرَأنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرآنَهُ قَالَ أَنزَلنَاهُ فَاستَمِعْ لَهُ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ أَن نُبَيِّنَهُ بِلِسَانِكَ فَكَانَ إِذَا أَتَاهُ جِبرِيلُ أَطرَقَ فَإِذَا ذَهَبَ قَرَأَهُ كَمَا وَعَدَهُ اللهُ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعجَلَ بِهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يُعَالِجُ مِنَ التَّنزِيلِ شِدَّةً كَانَ يُحَرِّكُ شَفَتَيهِ فَقَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَا أُحَرِّكُهُمَا كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يُحَرِّكُهُمَا فَقَالَ سَعِيدٌ أَنَا أُحَرِّكُهُمَا كَمَا كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يُحَرِّكُهُمَا فَحَرَّكَ شَفَتَيهِ فَأَنزَلَ اللهُ تَعَالَى لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمعَهُ وَقُرآنَهُ قَالَ جَمعَهُ فِي صَدرِكَ ثُمَّ تَقرَؤُهُ فَإِذَا قَرَأنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرآنَهُ قَالَ فَاستَمِعْ وَأَنصِتْ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا أَن تَقرَأَهُ قَالَ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ جِبرِيلُ استَمَعَ فَإِذَا انطَلَقَ جِبرِيلُ قَرَأَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَمَا أَقرَأَهُ

لازم دی چه د وحی الفاظ ستا په زړهٔ باندے نقش کوو. او تا ته ئے یاد وو. جبرائیل علیه السلام چه تاته څهٔ هم وائی تهٔ هغې لره اوره. او د الفاظو یادول او ستا په ژبه سره هغې لره لوستل دا زمونږ په ذمّه دی. دد ے نه پس چه به جبرائیل علیه السلام راتلو نو هغهٔ به په خاموشۍ سره سر ښکته کړو نو اوریدل به ئے. او د جبرائیلؑ د تلو نه پس به هغه الفاظ به دهٔ د الهی د وعد ے مطابق خپلو صحابو ته لوستل او یادول.

د حضرت عبد الله بن عباسؓ بیان د ے چه حکم الهی چه تهٔ خپلے ژبے لره په جلدۍ دیادولو دپاره مهٔ خوزوه. دد ے واقعه داده. چه د قرآن کریم د نازلیدو په وخت رسول اکرم ﷺ به هغه وخت د خپلے ژبے سره د وحی هغه الفاظ لره ادا کول. ابن عباسؓ د رسول الله ﷺ په شان شونډ ے خوزولے او سعیدؒ ته ئے حدیث بیان کړو او سعید ویلی دی څنګه چه ابن عباسؓ خپلے شونډ ے خوزولے زهٔ هم د هغهٔ په شان خپلو شونډو لره خوزوم. بیا الله تعالی دا حکم نازل اوفرمایلو چه تهٔ په جلدۍ دیادولو دپاره خپله ژبه مهٔ خوزوه. ستا په زړهٔ کښ د وحی الفاظ یادول او بیا ستا په ژبه سره هغې لره لوستل دا خما کار د ے. هر کله چه ئے مونږ یعنی خما فرښته جبرائیل هغې لره لولی نو تهٔ خاموش اوسیږه. دد ے حکم الهی نه پس هر کله چه به جبرائیل وحی راوړه نو حضور ﷺ به د هغهٔ الفاظ په خاموشۍ سره اوریدل او د هغهٔ د تلو نه پس به حضور ﷺ هغه الفاظ باربار ویل چه به جبرائیلؑ ویلی وو.

بَابُ الْجَهرِ بِالْقِرَاءَةِ فِي الصُّبحِ وَ الْقِرَاءَةِ عَلَى الْجِنِّ

باب : د سحر په مانځهٔ کښ او د پیریانو په وړاند ے په اوچت آواز سره د قرآن د لوستلو حکم

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت ابن عباسؓ بیان د ے چه رسول الله ﷺ پیریانو ته قرآن نهٔ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْجِنِّ وَمَا رَآهُمُ انْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِينُ إِلَى قَوْمِهِمْ فَقَالُوا مَا لَكُمْ قَالُوا حِيلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ قَالُوا مَا ذَاكَ إِلَّا مِنْ شَيْءٍ حَدَثَ فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَانْظُرُوا مَا هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَانْطَلَقُوا يَضْرِبُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَمَرَّ النَّفَرُ الَّذِينَ أَخَذُوا نَحْوَ تِهَامَةَ وَهُوَ بِنَخْلٍ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَهُوَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ صَلَاةَ الْفَجْرِ فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْآنَ اسْتَمَعُوا لَهُ وَقَالُوا هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَرَجَعُوا إِلَى قَوْمِهِمْ فَقَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى نَبِيِّهِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ

دے اورول او هغوئے لیدلی هم نه دی. واقعه داده. چه رسول الله ﷺ په هغه زمانه کښې د عکاظ بازار ته لاړو کله چه په شیطانانو باندے آسمانی دروازے بند شوے وے. او په هغوی باندے د اُور شغلے وریدلے شوے. دغه رنګے د شیطانانو یو جماعت خپلو خلقو ته لاړو او اوئے ویل چه زمونږ آسمان ته تلل بند شول او په مونږ باندے د اُور شغلے وریدل شروع شو. هغوی اووے چه دد ے سبب ضرور څۀ نوے امر دے. نو د پورپ او پچهیم یعنی مشرق او مغرب په طرفونو کښې اوګرځئ خبر واخلئ او اوګورئ چه څۀ وجه ده چه د آسمانونو خبرونه راتلل بند شو. هغه په زمکه کښې د مشرق او مغرب په طرف ګرځیدل. د هغوی نه څۀ خلق د تهامه (ملک حجاز) په طرف د عکاظ بازار ته د تلو دپاره راغلل. حضور ﷺ دغه وخت په (خائے) نخل کښې د خپلو صحابو سره د سحر مونځ کولو. هر کله چه هغوی قرآن واوریدو نو دیخوائے زړۀ اولګولو او اوئے ویل چه د آسمان د خبرونو د بندیدو دغه سبب دے. بیا هغه خپل قوم ته واپس لاړل او دائے اووے. اے زمونږ د قوم خلقو! مونږ یو عجیبه قرآن واوریدو چه د ربښتونے لار په طرف بوتلل کوی. پس مونږ په هغے باندے ایمان راوړو. او مونږ چرته د خدائے پاک سره شریک نۀ ګرځوو. پس الله تعالی سورة جن په خپل پیغمبر ﷺ باندے نازل کړو. قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ د آخره پورے[1].

---

[1] رسول الله صلی الله علیه وسلم پیریانو ته قرآن نۀ دے اورولے. امام نووی ویلی دی دد ے نه پس د ابن مسعود رضی الله عنه حدیث دے چه په هغے کښې دادی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه ما لره د جناتو قاصد راغے زۀ د هغۀ سره لاړم. او جناتو ته م قرآن واوره وو علماؤ ویلی دی چه دا دواړه جدا جدا قصے دی. د ابن عباس رضی الله عنه حدیث د نبوت د شروع نه دے هر کله چه جن په خپله راغلے وو او قرآن ئے اوریدلے اوتلے وو. لیکن رسول الله ﷺ ته د هغے علم د وحی د نازلیدو نه پس اوشولو. او د عبد الله بن مسعود حدیث د هغه زمانے دے کله چه اسلام ښۀ خور شوے وو.

عن عامر قال سألت علقمة هل كان ابن مسعود شهد مع رسول الله صلى الله عليه وسلم ليلة الجن قال فقال علقمة انا سألت ابن مسعود فقلت هل شهد احد منكم مع رسول الله صلى الله عليه وسلم ليلة الجن قال لا ولكنا كنا مع رسول الله ذات ليلة ففقدناه فالتمسناه في الأودية والشعاب فقلنا استطير أو اغتيل قال فبتنا بشر ليلة بات بها قوم فلما أصبحنا إذا هو جاء من قبل حراء قال فقلنا يا رسول الله

د عامر نه روایت دے چه ما د علقمه نه تپوس وکړو چه ایا ابن مسعود د رسول الله ﷺ سره وو هغوی لوے چه ما د ابن مسعود نه تپوس اوکړو او ورته مے ووے چه په لیلة الجن کښ ستاسو نه څوک د رسول الله ﷺ سره وو یعنی په کوم شپه پیغمبر ﷺ د پیریانو سره ملاقات اوکړو هغوی اووے نه لیکن یوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ سره وو هغه غائب شولو مونږ هغه لره د غر په ملو او کندو کښ وغیره کښ اوکتلو لیکن هغه میلاو نه شو مونږ دا اوګڼله چه هغه پیریانو په هوا باندے یوړلو یا چا په پټه لومړ کړو او شپه مونږ ډیره په بده طریقه سره تیره کړله چه سحر شو نو څه ګورو چه هغه د حراء جبل نور غر دے چه د مکے او منی په مینځ کښ دے) د طرفه راروان دے مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ د شپے تاسو مونږ ته میلاو نه شوئ

شیطانانو لوے په مونږ باندے آسمان ته تلل بند شو او په مونږ باندے د اُور شغلے وریدل شروع شو نووی رحمه الله ویلی دی ... دے حدیث نه معلومیږی چه دا امر زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نبوت نه پس شوے دے د هغے نه مخکښ نه وو په دے واسطه شیطانانو ته د دے فکر پیدا شو او په څلور طرفه ګرځیدل او کتل کول ئے شروع کړو او په هغه زمانه کښ د عربو په ملک کښ کاهنان او نجومیان ډیر وو هغوی ته دا خبره معلومه شوه چه د آسمان نه د خبرونو راتلل بند شو او د اُور کوڼے وریدل شروع شو چه هغے نه خولے ستورے ماتیدل وائی او په عربی کښ هغے ته شهاب ویلے کیږی نو شهاب زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نبوت دلیل ... دے د علماؤ یو جماعت ویلی دی چه شهاب د همیشه نه دے د کومے نه چه دنیا قائمه ده او د ابن عباس رضی الله عنه او زهری هم ... منقول دے د عربو د پخوانو اشعارو نه هم د هغے ثبوت میلاویږی او د ابن عباس رضی الله عنه نه یو حدیث هم په دغه باب کښ مروی ... دے د زهری نه د دے آیت په باره کښ تپوس اوکړے شو اوس که چرے څوک ولوری هغه به کوڼے خوری؟ هغوی لوے شهاب ... معکس هم وو لیکن د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نبوت نه روستو سره هغه ډیر سخت او غټ شولو او بعضو ویلی دی چه شهاب ډیر ... شوی لیکن ... بعضانو په شهاب سره سیزلے کیدل زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نبوت نه پس او شولو والله اعلم

... صلی الله علیه وسلم د خپلو صحابو سره په مقام نخل کښ د سحر مونځ کولو هر کله چه هغوی پیریانو، قرآن ولوریدو ... او ... وکړو او دائے اوویل چه د آسمان د خبرونو د موقوف کیدلو دغه سبب دے د دے حدیث نه دا وتلی دی چه د سحر په ... قرات په زوره لوستل پکار دی امام ابوعبد الله مازری ویلی دی د ظاهر حدیث نه دا وتلی دی چه هغوی د قرآن د لوریدو سره ایمان ... اوړو او د علماؤ په دے باندے اتفاق دے چه پیریانو لره به په آخرت کښ په ګناهونو باندے عذاب وی الله پخپله ... ... به ... حانو او بنیادمو نه جهنم لره د کوم به دے شان سره صحیح قول دا دے چه هغوی ته به د مومنانو په شان ثواب هم میلاویږی او د جنت نعمتونه به ورته هم میلاویږی او د بعضو په نز به هغه د ځناورو په شان خاورے کیږی

فَقَدْنَاكَ فَطَلَبْنَاكَ فَلَمْ نَجِدْكَ فَبِتْنَا بِشَرِّ لَيْلَةٍ بَاتَ بِهَا قَوْمٌ فَقَالَ أَتَانِي دَاعِي الْجِنِّ فَذَهَبْتُ مَعَهُ فَقَرَأْتُ عَلَيْهِمِ الْقُرْآنَ قَالَ فَانْطَلَقَ بِنَا فَأَرَانَا آثَارَهُمْ وَآثَارَ نِيرَانِهِمْ وَسَأَلُوهُ الزَّادَ فَقَالَ لَكُمْ كُلُّ عَظْمٍ ذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ يَقَعُ فِي أَيْدِيكُمْ أَوْفَرَ مَا يَكُونُ لَحْمًا وَكُلُّ بَعْرَةٍ عَلَفٌ لِدَوَابِّكُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا تَسْتَنْجُوا بِهِمَا فَإِنَّهُمَا طَعَامُ إِخْوَانِكُمْ

مونږ، تاسو ډیر اوکتلئ خو اومو نه موندے آخر شپه مو ګډه وډه تیره کړه. حضور ﷺ اوفرمایل اما ته د پیریانو د طرفنه یو بلنے والا راغلے. زه د هغه سره لاړم. او پیریانو ته مے قرآن واورووو. بیا پیغمبر ﷺ مونږ د خان سره بوتلو. او د هغوی نخښے او د هغوی د انګارونو نخښے اوښودلے. پیریانو د هغه نه د خوراک څه څیزونه اوغوښتل. پیغمبر ﷺ ورته اوفرمایل. د هغه څاروو هډوکی چه هغه د الله په نوم باندے ذبحه کړے شی ستاسو خوراک دے. ستاسو په لاس کښې د اخستو سره به هغه د غوښے نه ډکیږی. او د هر یو اوښ پچے ستاسو د څناورو خوراک دے. پیغمبر ﷺ فرمایلی دی په هډوکو او په پچو سره اودس مه لوچوئ. ځکه چه دا ستاسو د رونړو پیریانو او د هغوی د څناورو خوراک دے[1].

عَنْ دَاوُدَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ وَآثَارَ نِيرَانِهِمْ قَالَ الشَّعْبِيُّ وَسَأَلُوهُ الزَّادَ وَكَانُوا مِنْ جِنِّ الْجَزِيرَةِ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ مِنْ قَوْلِ الشَّعْبِيِّ مُفَصَّلًا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللهِ

مطلب د دویم حدیث هغه دے کوم چه بره ذکر تیر شو. دا چه کوم په پورته روایت کښې ذکر دی چه پیریانو د هغه نه خوراک اوغوښته او هغه د جزیرے پریان وو. د شعبی قول دے . او حدیث ختم شو تر دے پورے چه د هغوی د انګارونو نخښے ئے اوښودلے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمْ أَكُنْ لَيْلَةَ الْجِنِّ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ مَعَهُ

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے هغوی فرمایلی دی چه زه په لیلة الجن کښې د رسول الله ﷺ سره نه وم. لیکن څما آرزو وه چه کاش زه د ده سره وے.

عَنْ مَعْنٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَأَلْتُ مَسْرُوقًا مَنْ آذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِنِّ لَيْلَةَ اسْتَمَعُوا الْقُرْآنَ فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبُوكَ يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ أَنَّهُ آذَنَتْهُ

د معن نه روایت دے چه ما د خپل پلار نه اوریدلی دی هغوی ویلی دی چه ما د مسروق نه تپوس اوکړو. په کومه شپه چه پیریان راغلل او قرآن ئے اوریدلو نو رسول الله ﷺ ته د دے خبرے خبر چا ورکړو؟ هغوی اووے. ماته خوستا پلار (یعنی عبد الله بن مسعود رضی الله عنه)

---

[1]: نووی رحمه الله ویلی دی. د دے حدیث نه صفا معلومیږی چه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په لیلة الجن کښې نه وو. او هغه روایت باطلیږی کوم چه په سنن ابوداؤد کښې دے. چه په هغے کښې په نبیذ سره د اودس کولو ذکر دے. ځکه د امام مسلم روایت صحیح دے. او د ابوداؤد په روایت کښې زید دے. مولی د عمرو بن حریث او هغه مجهول دے.

بِهِمْ شَجَرَةٌ

بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِنَا فَيَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ أَحْيَانًا وَكَانَ يُطَوِّلُ الرَّكْعَةَ الْأُولَى مِنَ الظُّهْرِ وَيُقَصِّرُ الثَّانِيَةَ وَكَذٰلِكَ فِي الصُّبْحِ

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ أَحْيَانًا وَيَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كُنَّا نَحْزِرُ قِيَامَ

بیان کړے دے. چه هغه ته د پیریانو د راتلو خبر اونے ورکړو[1]

باب په ماسپخین او مازیګر کښې د قرأت بیان

د ابوقتادهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به مونږ ته مونځ راکوو. نو د ماسپخین او مازیګر په رومبو د وو رکعتونو کښې به ئے سورة فاتحه او دوه سورتونه لوستل. او کله به ئے یو نیم ایت مونږ ته اورولو او د ماسپخین رومبے رکعت به ئے د دویم رکعت نه اوږد کولو. دغه شان د سحر په مانځه کښې هم[2].

د ابوقتادهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به د ماسپخین او د مازیګر په رومبو دوو رکعتونو کښې سورة فاتحه او یو سورة لوستو او کله به ئے یو نیم سورة مونږ ته اورولو او په روستو دوو رکعتونو کښې به ئے صرف سورة فاتحه لوستله[3].

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه مونږ د ماسپخین او مازیګر

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی دا حدیث دلیل دے د هغه امر چه الله تعالی کله جماد لره قوّتِ تمیز ورکړو او د قرآن په ایتونو کښې د هغې ثبوت موجود دے. الله تعالی فرمایلی دی چه بعضے ګټے د الله تعالی د یرے نه رارغړی. او فرمایلی ئے دی چه هر څیز د هغه پاکی بیانوی لیکن تاسو نه پوهیږئ. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی زهٔ په مکه کښې هغې ګټے لره پیژنم چه هغې به ما ته سلام کولو. او په یو حدیث کښې دی چه دوه اونے د هغهٔ خواله راغلے. او د کور ستنو د هغهٔ په جدایئ کښې ژړا شروع کړه. او غلے تسبیح لووے. او د موسیٰ کپړے یوے ګټے واخستے او اونے تختولے. او د اُحُد غر او حراء (یعنی د حراء غر) حرکت اوکړو. انتهیٰ. زهٔ وایم چه په دے خبرو کښې د عقل سلیم په وجه لره شان هم شُبّه نهٔ شی کیدے. خکه چه طاقت د خبرو او تمیز کوم چه د انسان په دماغو کښې دے. او ژبه کښې دے. دا هم د خدائے پاک ورکړه دهٔ. ګنی دماغ او ژبه فی نفسه دواړه د غراو ګټے په شان جمادات دی البته په دغه امورو کښې هغه خلق شبه کوی چه هغه د خداوند کریم په قدرت کامله کښې غور نهٔ کوی. اودبے وقوفو په تابعدارے باندے مرکیږی او هره خبره یعنی د سوچ اوپوهے نه اختیاره وی.

[2] یعنی رومبے رکعت به د دویم نه اوږد وو. یعنی ورمبے رکعت به په نسبت د دویم اوږد وو. نووی رحمه الله ویلی دی. د دے حدیث نه معلومه شوه. چه په هر رکعت کښې پوره یو سورة لوستل اګر کهٔ وروکے وی غوره دی د دے نه چه پ اوږد سورة کښې یوه یا دوه رکوع اولولی او دا هم ثابته شوه چه د ماسپخین رومبے رکعت د دویم په نسبت اوږد کول غوره دی. او دغه صحیح دهٔ.

[3] په رستو دوو رکعتونو کښې سوة فاتحه لوستل واجب دی. او د دویم سورة لوستل غوره دی. او د ابوحنیفه رحمه الله په نز په روستنو دواړو رکعتونو کښې قرامت واجب نه دے. بلکه خاموشی یا تسبیح پوره دے.

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ قَدْرَ قِرَاءَةِ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ قَدْرَ النِّصْفِ مِنْ ذَلِكَ وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى قَدْرِ قِيَامِهِ فِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذَلِكَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبُو بَكْرٍ فِي رِوَايَتِهِ الم تَنْزِيلُ وَقَالَ قَدْرَ ثَلَاثِينَ آيَةً

په مانځهٔ کښې د رسول الله ﷺ د قیام اندازه کوله نو معلومه شوه چه هغه د ماسپخین په ړومبو دوو رکعتونو کښې دومره وخت قیام کولو. په څومره وخت کښې چه الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ لوستلے کیږي او په روستو دوو رکعتونو کښې د هغې په نیمه او د مازیګر په ړومبو دوو رکعتونو کښې د ماسپخین د دوو رکعتونو روستنو برابر. او د مازیګر په روستنو دوو رکعتونو کښې د هغې په نیمه او ابوبکر یو راوی په خپل روایت کښې د سورة الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ ذکر نهٔ دے کړے. بلکه د دیرشو ایتونو برابر ئې ویلی دی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِينَ آيَةً وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ قَدْرَ خَمْسَ عَشْرَةَ آيَةً أَوْ قَالَ نِصْفَ ذَلِكَ وَفِي الْعَصْرِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ قِرَاءَةِ خَمْسَ عَشْرَةَ آيَةً وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ قَدْرَ نِصْفِ ذَلِكَ

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ماسپخین په ړومبو دوو رکعتونو کښې په هر رکعت کښې د دیرشو ایتونو برابر قراءت کولو. او په روستو دوو رکعتونو کښې د پنځلسو ایتونو برابر یائې داسې ویلی دی د هغې په نیمه. او د مازیګر په ړومبو دوو رکعتونو کښې په هر رکعت کښې د پنځلسو ایتونو برابر او په روستونو دواړو رکعتونو کښې د هغې په نیمه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَنَّ أَهْلَ الْكُوفَةِ شَكَوْا سَعْدًا إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَذَكَرُوا مِنْ صَلَاتِهِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ عُمَرُ فَقَدِمَ عَلَيْهِ فَذَكَرَ لَهُ مَا عَابُوهُ بِهِ مِنْ أَمْرِ الصَّلَاةِ فَقَالَ إِنِّي لَأُصَلِّي بِهِمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَخْرِمُ عَنْهَا إِنِّي لَأَرْكُدُ بِهِمْ فِي الْأُولَيَيْنِ وَأَحْذِفُ فِي

د جابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دے. د کوفے خلقو حضرت عمر رضی الله عنه ته د حضرت سعد رضی الله عنه شکایت اوکړو یعنی د هغهٔ د مانځهٔ حضرت عمر رضی الله عنه په سعد رضی الله عنه پسے قاصد اولیږلو. هغه راغے. هغوی ورته چه د کوفے خلقو د مانځهٔ په باره کښې کوم شکایت کړے وو. ورته اوویل نو دهٔ اوویل زهٔ خو د رسول الله ﷺ په شان مونځ ورکوم. په هغې کښې کمے نهٔ کوم. ړومبو دوو رکعتونو لره اوږدوم او روستو دوو رکعتونو لره

الْأُخْرَيَيْنِ فَقَالَ ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ أَبَا إِسْحٰقَ

لنډوم. حضرت عمرؓ اووے. اے ابواسحٰق! ستا نه دغه اُميد دے[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ عُمَرُ لِسَعْدٍ قَدْ شَكَوْكَ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى فِي الصَّلَاةِ قَالَ أَمَّا أَنَا فَأَمُدُّ فِي الْأُولَيَيْنِ وَأَحْذِفُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ وَمَا آلُو مَا اقْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ أَوْ ذَاكَ ظَنِّي بِكَ

د جابر بن سمرهؓ نه روايت دے. حضرت عمرؓ سعدؓ ته اووے. خلق ستا نه شکايت کوی د هرے خبرے. تردے پورے چه د مانځهٔ هم سعد اووے زهٔ خو ړومبی دوه کعتونه اوږدوم. او روستو دوو رکعتونو لره مختصر کومه او د رسول اللهﷺ په تابعدارئ کښې زهٔ کوتاهی نهٔ کوم. حضرت عمرؓ اووے. چه ستا نه دغه شان ګمان دے. یا څما ګمان ستا سره دغه شان دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ لَقَدْ كَانَتْ صَلَاةُ الظُّهْرِ تُقَامُ فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَقْضِي حَاجَتَهُ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ ثُمَّ يَأْتِي وَرَسُولُ اللهِ ﷺ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مِمَّا يُطَوِّلُهَا

د ابوسعيد خدریؓ نه روايت دے. چه د ماسپخين مونځ به اودريدلے وو. بيا تلو والا به بقيع ته تلو. او د حاجت چه به فارغ شو او اودس کولو نه پس به راتلو او رسول اللهﷺ به په ړومبی رکعت کښې وو. دومره قدرے به ئے هغے لره اوږدولو.

عَنْ قَزَعَةَ قَالَ أَتَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ وَهُوَ مَكْثُورٌ عَلَيْهِ فَلَمَّا تَفَرَّقَ النَّاسُ عَنْهُ قُلْتُ إِنِّي لَا أَسْأَلُكَ عَمَّا يَسْأَلُكَ هٰؤُلَاءِ عَنْهُ قُلْتُ أَسْأَلُكَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا لَكَ فِي ذَاكَ مِنْ خَيْرٍ فَأَعَادَهَا عَلَيْهِ فَقَالَ كَانَتْ صَلَاةُ الظُّهْرِ تُقَامُ فَيَنْطَلِقُ أَحَدُنَا إِلَى الْبَقِيعِ فَيَقْضِي حَاجَتَهُ ثُمَّ يَأْتِي أَهْلَهُ فَيَتَوَضَّأُ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى

د قزعه روايت دے چه زهٔ د ابوسعيد خدریؓ خواله راغلم نو د هغهٔ سره ډير خلق جمع وو. هر کله چه هغه ټول لاړل نو ما اووے. زهٔ ستا نه د هغه خبرو تپوس نهٔ کوم د کومو خبرو چه دے خلقو تپوس کولو. بلکه زهٔ ستا نه د رسول اللهﷺ د مانځهٔ په باره کښې تپوس کوم. هغوی اووے. د هغے په تپوس کښې به ستا څهٔ خير نهٔ وی. (ځکه تهٔ به هغسے مونځ نهٔ شے کولے نو څهٔ فائده) قزعه دوباره دغه تپوس اوکړو. پو ابوسعيدؓ اووے چه د ماسپخين مونځ به اودريدو. او زمونږ نه به څوک بقيع ته لاړو. او د حاجت نه به فارغ شو او خپل کورته به واپس راغے اودس به ئے اوکړو. او بيا به جماعت ته راغے. چه اوبه ئے کتل. نو رسول اللهﷺ به په ړومبی رکعت کښې وو.

---

[1]: ابواسحٰق د سعد کنيت دے. ددے نه معلومه شوه چه مخامخ تعريف صحيح دے کهٔ چرے د څهٔ ضرر يره نهٔ وی. دغسے د امام تپوس کول د خپلو عاملانو د شکايت ضروری دی.

بَاب الْقِرَاءَةِ فِي الصُّبْحِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ صَلَّى لَنَا النَّبِيُّ ﷺ الصُّبْحَ بِمَكَّةَ فَاسْتَفْتَحَ سُورَةَ الْمُؤْمِنِينَ حَتَّى جَاءَ ذِكْرُ مُوسَى وَهَارُونَ أَوْ ذِكْرُ عِيسَى مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادٍ يَشُكُّ أَوِ اخْتَلَفُوا عَلَيْهِ أَخَذَتِ النَّبِيَّ ﷺ سَعْلَةٌ فَرَكَعَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ السَّائِبِ حَاضِرٌ ذَلِكَ وَفِي حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ فَحَذَفَ فَرَكَعَ

عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ

عَنْ قُطْبَةَ بْنِ مَالِكٍ قَالَ صَلَّيْتُ وَصَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ حَتَّى قَرَأَ وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ قَالَ فَجَعَلْتُ أُرَدِّدُهَا وَلَا أَدْرِي مَا قَالَ

عَنْ قُطْبَةَ بْنِ مَالِكٍ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَهَا طَلْعٌ نَضِيدٌ

عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ عَنْ عَمِّهِ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ فَقَرَأَ فِي أَوَّلِ رَكْعَةٍ وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَهَا طَلْعٌ نَضِيدٌ وَرُبَّمَا قَالَ ق

باب :دسحر په مانځۀ کښې دقرأت بيان

د عبد الله بن سائب نه روايت دے. رسول الله ﷺ د سحر مونځ په مکه مکرمه کښې اوکړلو. او سورة مؤمنون ئې شروع کړو. تر دے پورے چه د موسیٰ او هارون عليهما السلام ذکر راغے. يا د عيسیٰ عليه السلام دا شک دے محمد بن عبادؒ چه دده حديث راوی دے، يا د راويانو اختلاف دے. هغۀ ته توخے راغے نو رکوع ئې اوکړه. عبد الله بن سائبؓ دغه وخت موجود وو.[1]

د عمرو بن حريثؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ به د سحر په مانځۀ کښې اذا الشمس كُوِّرَتْ لوستلو.

د قطبه بن مالكؓ نه روايت دے. چه ما مونځ اوکړلو او رسول الله ﷺ مونږ ووکړلو. نو سورة قٓ ئې اولوستو هر کله چه هغه دا آيات اولوستو والنخل باسقات ما هم هغے لره اولوستلو. ليکن په مطلب باندے پوهه نۀ شوم. (ددے مطلب دا دے او د کهجورو اوږدے اوږدے اونې چه په هغے کښې وږی لګيدلی دی)

قطبه بن مالكؓ د رسول الله ﷺ نه د سحر په مانځۀ کښې اوريدلی دی. وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ (دا آيت په سورة قٓ کښې دے)

زياد بن علاقه د خپل تره (قطبه بن مالكؓ) نه اوريدلی دی. هغوی د رسول الله ﷺ سره د سحر مونځ اوکړو. هغۀ په رومبی رکعت کښې دا اولوستو وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ او کله وائی چه سورة قٓ ئې لولوستو.

[1] نووی رحمه الله ويلی دی دد ے حديث نه دا اووتله. چه د سورة لوستل ضروری نۀ دی. او قرامت موقوف کول جائز دی. کۀ چرے په عذر سره وی په اتفاق د علماؤ او کۀ چرے عذر نۀ وی نو هم جائز دی مکروه نۀ دی. مگر زمونږ په نز اولی خلاف دے. او د مالكؒ په نز په مشهور روايت کښې مکروه دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ بِقٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَكَانَ صَلَاتُهُ بَعْدُ تَخْفِيفًا

د جابر بن سمرهؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ به د سحر په مانځهٔ کښ سورة قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ لوستلو. او باقی مونځونو به ئے کم لوستل.

عَنْ سِمَاكٍ قَالَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ عَنْ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يُخَفِّفُ الصَّلَاةَ وَلَا يُصَلِّي صَلَاةَ هٰؤُلَاءِ قَالَ وَأَنْبَأَنِي أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ بِقٓ وَالْقُرْآنِ وَنَحْوِهَا

د سماک نه روایت دے. ما د جابر بن سمرهؓ نه تپوس اوکړو. د رسول الله ﷺ د مانځهٔ په باره کښ. هغو اووے هغه به سپک مونځ لوستلو. د هغه خلقو په شان به ئے (لوئے لوئے سورتونه) نه لوستل. او د سحر په مانځهٔ کښ به ئے قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ او د هغے برابر سورتونه لوستلو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ بِاللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى وَفِي الْعَصْرِ نَحْوَ ذٰلِكَ وَفِي الصُّبْحِ أَطْوَلَ مِنْ ذٰلِكَ

د جابر بن سمرهؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ د ماسپخین په مانځهٔ کښ بِاللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى لوستلو. او په مازیګر کښ هم دومره لوئے سورتونه او د سحر په مانځهٔ کښ به ئے ددے نه لوئے سورتونه لوستل.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى وَفِي الصُّبْحِ بِأَطْوَلَ مِنْ ذٰلِكَ

د جابر بن سمرهؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ به د ماسپخین په مانځهٔ کښ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى لوستلو. او د سحر په مانځهٔ کښ به ئے ددے نه اوږده سورتونه لوستل.

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ مِنَ السِّتِّيْنَ إِلَى الْمِائَةِ

د ابوبرزهؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ د سحر په مانځهٔ کښ به د شپیتو اٰیتونو نه واخله د سلو اٰینو پورے لوستلو.

بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الْمَغْرِبِ

باب: د ماښام په مانځهٔ کښ د قرأت بیان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ سَمِعَتْهُ وَهُوَ يَقْرَأُ وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا فَقَالَتْ يَا بُنَيَّ لَقَدْ ذَكَّرْتَنِي بِقِرَاءَتِكَ هٰذِهِ السُّوْرَةَ إِنَّهَا لَآخِرُ مَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ بِهَا فِي الْمَغْرِبِ

اُمّ فضل بنت حارث د عبدالله بن عباسؓ نه سورة وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا لوستل واوریدل. نو اوئے ویل خویه ! تا دا سورة اولوستو نو ماته د رایاد کړل د تولو نه په آخر کښ ما د رسول الله ﷺ نه دا سورة اوریدلے وو. هغهٔ د ماښام په مانځهٔ کښ دے لره لوستلے وو.

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ

جُبیر بن مطعم روایت کوی چه ما د رسول الله ﷺ نه سورة طور د

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِالطُّورِ فِي الْمَغْرِبِ

بَاب الْقِرَاءَةِ فِي الْعِشَاءِ

عَنِ الْبَرَاءِ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ فِي سَفَرٍ فَصَلَّى الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ فَقَرَأَ فِي إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّهُ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ فَقَرَأَ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَأْتِي فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ فَصَلَّى لَيْلَةً مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ أَتَى قَوْمَهُ فَأَمَّهُمْ فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ فَانْحَرَفَ رَجُلٌ فَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى وَحْدَهُ وَانْصَرَفَ فَقَالُوا لَهُ أَنَافَقْتَ يَا فُلَانُ قَالَ لَا وَاللهِ وَلَآتِيَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَأُخْبِرَنَّهُ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا أَصْحَابُ نَوَاضِحَ نَعْمَلُ بِالنَّهَارِ وَإِنَّ مُعَاذًا صَلَّى مَعَكَ الْعِشَاءَ ثُمَّ أَتَى فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مُعَاذٍ فَقَالَ يَا مُعَاذُ أَفَتَّانٌ أَنْتَ اقْرَأْ بِكَذَا وَاقْرَأْ بِكَذَا قَالَ سُفْيَانُ فَقُلْتُ لِعَمْرٍو إِنَّ أَبَا الزُّبَيْرِ حَدَّثَنَا عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ قَالَ اقْرَأْ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا

ماښام په مانځهٔ کښې اوریدلے دے

باب : د ماسخوتن په مانځهٔ کښې د قرأت بیان

د براء بن عازب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په سفر کښې وو. هغهٔ د ماسخوتن مونځ ورکړلو. نو سورة وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ئے په یو رکعت کښې اولوستلو.

د براء بن عازب نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. چه د ماسخوتن په مانځهٔ کښې ئے سورة وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ لوستلو. ما داسے خوش آواز چا لره نهٔ وو موندلے.

د جابر نه روایت دے چه معاذ بن جبل به د رسول الله ﷺ سره مونځ اوکړلو. بیا به کور ته راغلے خپلو خلقو ته به ئے امامت ورکوو. هغه یوه شپه د رسول الله ﷺ سره د ماسخوتن مونځ اوکړلو راغے. بیائے د خپل قوم امامت کوو او سورة بقره ئے شروع کړو. یو سړی مخ واړه وو. او سلام ئے اوګرځوو. او یواځے ئے مونځ اوکړلو اولاړو. خلقو اووے کیدے شی ته منافق ئے. هغه اووے نه زهٔ منافق نهٔ یم قسم دے په خدائے پاک بانده زهٔ د رسول الله ﷺ خواله ورځم او هغه ته وایم. بیا هغه د حضور ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ! مونږ اوښانو والایو (توله ورځ په اوښانو سره اوبهٔ راوباسو) او معاذ ستاسره د ماسخوتن مونځ اوکړو راغے. او سورة بقره ئے شروع کړه. ددے په اوریدو سره رسول الله ﷺ د معاذ په طرف توجه اوکړه. او اوئے فرمایل اے معاذ ! ولے ته فسادی ئے (چه په خلقو کښې نفرت غورځوے. او فتنه پورته کوے) دا دا سورة په مانځهٔ کښې، لوله سفیان ویلی دی. چه ما عمرو ته اووے. چه ابو زبیر د جابر نه بیان کړے دے. چه حضور ﷺ اوفرمایل چه وَالشَّمْسِ وَ

يَغْشَى وَسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى فَقَالَ عَمْرٌو نَحْوَ هٰذَا

ضُحَاهَا وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى لوستل كوئ: عمرو وائي چه دا دے غونډ سورتونه لولی.[1]

عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ قَالَ صَلَّى مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ الْأَنْصَارِيُّ لِأَصْحَابِهِ الْعِشَاءَ فَطَوَّلَ عَلَيْهِمْ فَانْصَرَفَ رَجُلٌ مِنَّا فَصَلَّى فَأُخْبِرَ مُعَاذٌ عَنْهُ فَقَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ فَلَمَّا بَلَغَ ذٰلِكَ الرَّجُلَ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ مَا قَالَ مُعَاذٌ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُرِيدُ أَنْ تَكُونَ فَتَّانًا يَا مُعَاذُ إِذَا أَمَمْتَ النَّاسَ فَاقْرَأْ بِالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى

د حضرت جابرؓ نه روايت دے چه حضرت معاذ بن جبلؓ خپلو خلقو ته د ماسخوتن مونځ ورکړو. نو قراءت ئے اوږد اوکړو. يو سړے زمونږ نه مونځ مات کړو او خان له مونځ ئے اوکړو. معاذؓ ته چه کله دا خبر اورسيدو نو هغهٔ اووے دغه سړے منافق دے دا خبره هغه سړی ته اورسيده. هغه د رسول اللهﷺ خواله لاړو. او معاذؓ چه څهٔ ويلی وو هغه ئے ورته بيان کړل. هغه معاذؓ ته اووے. اے معاذؓ ته فسادی کيدل غوارے. هر کله چه ته امامت کوے نو وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى لوله.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ كَانَ يُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى قَوْمِهِ فَيُصَلِّي بِهِمْ تِلْكَ الصَّلَاةَ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے. چه معاذ بن جبلؓ به د ماسخوتن مونځ د رسول اللهﷺ سره کولو. بيا به د خپلو خلقو ته راغے. او هغه مونځ به ئے هغوی ته ورکولو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ الْعِشَاءَ ثُمَّ يَأْتِي مَسْجِدَ قَوْمِهِ فَيُصَلِّي بِهِمْ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے. چه معاذؓ به د رسول اللهﷺ سره د ماسخوتن مونځ اوکړلو. بيا به د خپلو خلقو جماعت ته راغے امامت به ئے کوو.

---

[1] نووی رحمه الله فرمائی دا دے حديث نه څو خبرے معلوميږی. يو دا چه د فرض مونځ کولو والا اقتدا په نفل مونځ کولو والا پسے جائز ده. ولے چه معاذ رضی الله عنه فرض مونځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ادا کړے وو. بيا د هغهٔ په دوباره مونځ کول نفل شو او د هغهٔ د قوم هغه فرض. په نورو کتابونو کښ دا امر د مسلم نه سوا په تصريح سره منقول دے. او د شافعی رحمه الله دغه مذهب دے. ليکن ربيعه او مالک او ابوحنيفه او خاوندانو د کوفے دے لره جائز کړے نهٔ دے. او د معاذ د حديث تاويل ئے کړے دے چه هغه منسوخ دے. يا هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د نفل نيت کړے وی. يا حضرت به د هغے نه خبر نهٔ وو. او دا ټول تاويلات بلا دليل دی. او ظاهر حديث لره د پريخودلو څهٔ وجه نشته دے. دويمه دا چه د عذر په وجه سره د مانځهٔ ماتول او د اقتداء پريخودل صحيح دی. دريمه دا چه کوم سړے بد خبره اوکړی هغه ته سخت لفظ ويل صحيح دی. څلورم دا چه د مقتديانو په رعايت سره مونځ مختصر کول پکار دی. والله اعلم

بَابُ أَمْرِ الْأَئِمَّةِ بِتَخْفِيفِ الصَّلَاةِ فِي تَمَامٍ

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا فَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَضِبَ فِي مَوْعِظَةٍ قَطُّ أَشَدَّ مِمَّا غَضِبَ يَوْمَئِذٍ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ فَأَيُّكُمْ أَمَّ النَّاسَ فَلْيُوجِزْ فَإِنَّ مِنْ وَرَائِهِ الْكَبِيرَ وَالضَّعِيفَ وَذَا الْحَاجَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَمَّ أَحَدُكُمُ النَّاسَ فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيهِمُ الصَّغِيرَ وَالْكَبِيرَ وَالضَّعِيفَ وَالْمَرِيضَ فَإِذَا صَلَّى وَحْدَهُ فَلْيُصَلِّ كَيْفَ شَاءَ

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَا قَامَ أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفِ الصَّلَاةَ فَإِنَّ فِيهِمُ الْكَبِيرَ وَفِيهِمُ الضَّعِيفَ وَإِذَا قَامَ وَحْدَهُ فَلْيُطِلْ صَلَاتَهُ مَا شَاءَ

باب امامانو ته د مونځ د پوره او سپک کولو حکم

د ابو مسعود انصاری نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ له راغلے او عرض ئے اوکړو چه زه د فلانی سړی په وجه سره د سحر جماعت ته نه راځم ولے چه هغه قرات اوږد کوی نو ما هغهٔ له په نصیحت کولو کښ چرته دومره په غصه کښ نه وو لیدلے څومره چه م په دغه ورځ اولیدو. حضور ﷺ اوفرمایل اے خلقو! ستاسو نه بعضے خلق داسے دی. چه هغه د دین نه نفرت پیدا کوی څوک چه په تاسو کښ امامت کوی نو مختصر مونځ د کوی ځکه چه دده نه روستو بوډاګان او کمزوری او کار والا کسان وی[1]

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. هر کله چه څوک ستاسو نه مونځ ورکوی. نو سپک مونځ د ورکوی. ځکه چه په جماعت کښ بچی، بوډاګان، کمزوری او بیمار وی او کله چه یواځے مونځ کوئ نو څنګه چه موزړهٔ غواړی کوئ[2].

د همام بن منبه نه روایت دے چه ابوهریره د حضرت محمد ﷺ نه اوریدلی څو حدیثونه بیان کړل د هغے نه یو دا هم وو. چه هغهٔ فرمایلی وو. هر کله چه ستاسو نه څوک مونځ ورکوی نو سپک مونځ د کوی. ځکه چه په جماعت کښ بوډاګان او کمزوری خلق وی. البته کله چه یواځے مونځ کوی نو څنګه چه ئے خپل زړهٔ غواړی خپل مونځ د اوږد کړی

---

[1] یعنی په مقتدیانو کښ د هر قسمه خلق وی، بوډاګان، بیمار، ضعیف کمزوری نو فرض مانځهٔ له ډیر اوږده ول نهٔ دی پکار. البته دا ضروری ده. چه ارکان په ښهٔ شان سره د سنتو برابر ادا کړی. او په هغے کښ کوتاهی نهٔ کوی. او درمیانه سورتونه لولوی لکه والشمس، والضحی، اقرأ وغیره. ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د عذر په وجه سره په جماعت کښ کهٔ چرے شریک نهٔ شی نو جائز دی

[2] یعنی څومره چه غواړی قرءت د اوږد کوی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِي النَّاسِ الضَّعِيفَ وَالسَّقِيمَ وَذَا الْحَاجَةِ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله فرمایلی دی هر کله چه څوک ستاسو نه مونځ ورکوی. نو سپک مونځ دِ ورکوی. ځکه چه په خلقو کښې کمزوری ناجوړه او کار والاوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ بَدَلَ السَّقِيمِ الْكَبِيرَ

د ابوهریره نه روایت دے . رسول الله دغه اوفرمایل . کوم چه پورته ذکر شو. په دے روایت کښې د بیمار په ځائے بوډا دے.

عَنْ عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ الثَّقَفِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ أُمَّ قَوْمَكَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَجِدُ فِي نَفْسِي شَيْئًا قَالَ ادْنُهْ فَجَلَّسَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ فِي صَدْرِي بَيْنَ ثَدْيَيَّ ثُمَّ قَالَ تَحَوَّلْ فَوَضَعَهَا فِي ظَهْرِي بَيْنَ كَتِفَيَّ ثُمَّ قَالَ أُمَّ قَوْمَكَ فَمَنْ أَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيهِمُ الْكَبِيرَ وَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيضَ وَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَإِنَّ فِيهِمْ ذَا الْحَاجَةِ وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ وَحْدَهُ فَلْيُصَلِّ كَيْفَ شَاءَ

د عثمان بن ابی العاص ثقفی نه روایت دے. رسول الله هغهٔ ته اوفرمایل. تهٔ د خپل قوم امامت کوه. هغوی اووے. یا رسول الله ازهٔ په خپل زړهٔ کښې څهٔ مومم حضور اوفرمایل ما ته نژدے راشه او زهٔ ئے په خپل مخکښې کینولم بیائے خپل ورغوے ځما په سینه باندے کینبودو. او د هغے نه پس ئے اوفرمایل تاؤشه او خپل د لاس ورغوے ئے ځما د اوګو په مینځ کښې په شا باندے کینبودو او د هغے نه پس ئے اوفرمایل خه، د خپل قوم امامت کوه او څوک چه د چا قوم امامت کوی هغه دِ سپک مونځ کوی. ځکه چه په خلقو کښې څوک بوډا دے، څوک ناجوړه دے، څوک کمزورے دِے ، څوک کار والا دے. البته هر کله چه یواځے مونځ کوی نو چه په کوم شان سره ئے زړهٔ غواړی کوی دی[1].

عَنْ عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ قَالَ آخِرُ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَمْتَ قَوْمًا فَأَخِفَّ بِهِمُ الصَّلَاةَ

د عثمان بن ابی العاص نه روایت دے. چه رسول الله چه کومه آخری خبره ماته بیان کړه هغه دا وه.چه هر کله تهٔ د خلقو امامت کوے نو مونځ بالکل سپک کوه.

---

[1] ووے. چه زهٔ په خپل زړهٔ کښې څهٔ مومم. د دے نه مراد دا دے چه حضرت عثمان ثقفی ته یره شوی وی. چه چرته د امام په جوړیدو سره غرور او تکبر رانهٔ شی نو الله تعالی هغے لره لرے کړو د رسول الله د لاس په برکت سره. یا دا مراد دے. چه د عثمان په زړهٔ کښې وسوسے ډیرے راتلے او دغه شان سړے د امامت لائق نهٔ دے. پخپله مسلم د حضرت عثمان نه روایت کوی چه ما عرض اوکړو. یا رسول الله ! شیطان ځما په مانځهٔ کښې حرج غورځولے دے. ځما نه قرآن په لوستو لوستو کښې هیر شی. حضور اوفرمایل . دا یو شیطان دے. چه د هغهٔ نوم خنزب دے. هر کله چه تا ته د دا قسم وسوسه راشی. نو د الله پناه غواړه (یعنی أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم وایه) او کس طرفته درے ځله لاړے تو که . حضرت عثمان وائی . ما د غه شان اوکړو. هو هغه حال ختم شو. انتهی

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوجِزُ فِي الصَّلَاةِ وَيُتِمُّ

د انس‌ؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به مختصر مونځ کولو لیکن پوره به ئې وو یعنې رکوع، سجدے، او ټول ارکان به ئې په ښه شان سره ادا کول.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ مِنْ أَخَفِّ النَّاسِ صَلَاةً فِي تَمَامٍ

د انسؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ به د ټولو خلقو نه زیات سپک او پوره مونځ کولو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلَاةً وَلَا أَتَمَّ صَلَاةً مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ

انس بن مالکؓ ویلی دی. ما د چا امام نه روستو د رسول اللهﷺ نه زیات سپک او پوره مونځ نه دے کړے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ مَعَ أُمِّهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَيَقْرَأُ بِالسُّورَةِ الْخَفِيفَةِ أَوْ بِالسُّورَةِ الْقَصِيرَةِ

د انسؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ په مانځۀ کښې د بچي ژړا واوریده چه د خپلې مور سره به وو.نو حضورﷺ به ورکوټې سورة اولوستو[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَدْخُلُ الصَّلَاةَ أُرِيدُ إِطَالَتَهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأُخَفِّفُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ بِهِ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه زۀ مونځ شروع کوم او غواړم چه هغې لره اوږد کړم. زۀ د بچي ژړا لره واورم نو مونځ په دے خیال سره سپکوم چه مور ته د خپل بچي په ژړا باندے ډیر تکلیف وی.

بَابُ اعْتِدَالِ أَرْكَانِ الصَّلَاةِ وَ تَخْفِيفِهَا فِي تَمَامٍ

باب: په مانځۀ کښې ټول ارکان په اعتدال سره پوره کول او مانځۀ لره د سپک کولو بیان

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ رَمَقْتُ الصَّلَاةَ مَعَ مُحَمَّدٍ ﷺ فَوَجَدْتُ قِيَامَهُ فَرَكْعَتَهُ فَاعْتِدَالَهُ بَعْدَ رُكُوعِهِ فَسَجْدَتَهُ وَجَلْسَتَهُ بَيْنَ

د براء بن عازبؓ نه روایت دے چه ما د رسول اللهﷺ د مانځۀ معلومات اوکړو. نو معلومه شوه. چه د هغۀ قیام بیا رکوع بیا د رکوع نه اودریدل بیا سجده او د دواړو سجدو په مینځ کښې جلسه

[1] او مانځۀ لره زر ختم کړم د دے دپاره چه ښځې ته تکلیف نه وی. او بچے ے زیات او نه ژاړی. سبحٰن الله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خاص وعام ټولو باندے شفقت وو. او هغه رحمة للعٰلمین وو. د دے حدیث نه معلومه شوه چه امام لره د مقتدیانو رعایت ضروری دے. او د ښځو د سرو سره مونځ لوستلو د بچو جماعت ته وړل صحیح دی. اگر چه غوره داده. چه ډیر وړوکے بچے چه غل متیازے هر خائے کوی، هغه د جماعت ته رانه وړے شی. (نووی رحمه الله)

السَّجْدَتَيْنِ فَسَجْدَتَهُ فَجَلْسَتَهُ مَا بَيْنَ التَّسْلِيمِ وَالِانْصِرَافِ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ

عَنِ الْحَكَمِ قَالَ غَلَبَ عَلَى الْكُوفَةِ رَجُلٌ قَدْ سَمَّاهُ زَمَنَ ابْنِ الْأَشْعَثِ فَأَمَرَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ عَبْدِ اللهِ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَكَانَ يُصَلِّي فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَامَ قَدْرَ مَا أَقُولُ اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ قَالَ الْحَكَمُ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى فَقَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ يَقُولُ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرُكُوعُهُ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَسُجُودُهُ وَمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ قَالَ شُعْبَةُ فَذَكَرْتُهُ لِعَمْرِو بْنِ مُرَّةَ فَقَالَ قَدْ رَأَيْتُ ابْنَ أَبِي لَيْلَى فَلَمْ تَكُنْ صَلَاتُهُ هٰكَذَا

بیا دویمه سجده او د دویمې سجدې او د سلام په مینځ کښې جلسه دا ټول برابر برابر وو[1].

د حکم نه روایت دے. چه د ابن اشعث په زمانه کښې یو سړے په کوفه باندے غالب شولو. د هغهٔ نوم حکم بیان کړے دے. (هغه سړے مطر بن ناجیه وو لکه چه په دویم روایت کښې د هغه تصریح ده) هغه ابوعبیده بن عبد الله بن مسعود ته د مانځهٔ ورکولو حکم اوکړو. هغه به مونځ ورکولو . نو چه هر کله به ئے د رکوع نه سر اوچت کړو نو دومره وخت به ولاړ وو چه ما به دا دُعا اولوستله : اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. ما دا عبد الرحمٰن بن ابی لیلی ته بیان کړو. هغوی اووے ما د براء بن عازب نه اوریدلی دی هغه ویلی وو چه د رسول الله ﷺ قیام او رکوع او د رکوع نه بعد قیام او سجده او د سجدو د مینځ جلسه دا به ټول برابر برابر کیدهٔ. شعبه وائی ما دا حدیث عمرو بن مُرّه ته بیان کړو. نو هغوی اووے. ما عبد الرحمٰن بن ابی لیلی لره لیدلے وو. د هغهٔ مونځ خو داسے نهٔ وو (ددے نه معلومه شوه چه د حکم روایت د ابن ابی لیلی په اعتبار قابل نهٔ دے)

[1] یعنی نږدے نږدے لږ دیر فرق وی. کیدے شی چه د قیام او تشهد جلسه څهٔ زیاته وی نووی رحمه الله ویلی دی دا حدیث په بعضے احوال باندے محمول دے گنی د دویم حدیث نه دا امر ثابت دے. چه د هغه قیام طویل وو. او هغه به د سحر په مانځهٔ کښې د شپیتو اٰیتونو نه واخله د سلو اٰیتونو پورې لوستل او په ماسپخین کښې به ئے الم تنزیل السجده لوستله او په مونځ به ولاړ وو د مانځهٔ نه به یو سړے واپس شو د حاجت دپاره به بقیع ته لاړو او د حاجت نه به فارغ شو راغلو به او اودس به ئے اوکړو. او چه جماعت ته به راغے نو حضور به په رومبی رکعت کښې وو. او هغه به سورة مؤمنون لوستو. او په ماښام کښې والطور او والمرسلات لو د بخاری په روایت کښې سوره اعراف.
بهر حال ددے حدیثو نه دا امر وتلے دے. چه هغه به قیام اوږد کوو. او کله به ئے داسے هم کول لکه چه په دے حدیث کښې دی.

عَنِ الْحَكَمِ أَنَّ مَطَرَ بْنَ نَاجِيَةَ لَمَّا ظَهَرَ عَلَى الْكُوفَةِ أَمَرَ أَبَا عُبَيْدَةَ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ

د حکم نه روایت دے مطر بن ناجیه چه کله په کوفه باندے غالب شو. نو ابوعبیده ته ئے د مانځه ورکولو حکم اوکړو. بیائے حدیث لره د آخره پورے هغه شان بیان کړو لکه چه پورته ذکر شو.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنِّي لَا آلُو أَنْ أُصَلِّيَ بِكُمْ كَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِنَا قَالَ فَكَانَ أَنَسٌ يَصْنَعُ شَيْئًا لَا أَرَاكُمْ تَصْنَعُونَهُ كَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ انْتَصَبَ قَائِمًا حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ قَدْ نَسِيَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ مَكَثَ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ قَدْ نَسِيَ

د انس نه روایت دے هغوی وائی زۀ کوتاهی نۀ کوم ستاسو سره په مانځۀ کولو کښ. څنګه چه به رسول الله ﷺ زمونږ سره کولو. ثابت وائی. انس به یو کار کولو نو زۀ تا کښ نۀ وینم په هغه کار کولو کښ. هر کله چه به هغۀ د رکوع نه سره اوچتولو نو نیغ به اودریدلو. تر دے پورے چه ویونکی به اووے چه د هغۀ هیر شوی دی او کله چه به ئے د سجدے نه سر اوچت کړو نو دومره به کیناستو چه ویونکی به اووے چه د هغۀ نه هیره شوے ده.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا صَلَّيْتُ خَلْفَ أَحَدٍ أَوْجَزَ صَلَاةً مِنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي تَمَامٍ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَقَارِبَةً وَكَانَتْ صَلَاةُ أَبِي بَكْرٍ مُتَقَارِبَةً فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ مَدَّ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ قَامَ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَوْهَمَ ثُمَّ يَسْجُدُ وَيَقْعُدُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَوْهَمَ

د انس نه روایت دے. چه ما د چا نه روستو دومره مختصر مونځ نه دے کړے څومره مختصر او پوره چه مونږ په رسول الله ﷺ پسے کړے دے. د هغۀ مونځ برابر وو (یعنی هر یو رکن لکه قیام او رکوع او سجود دا ټول به ئے د یو بل په برابر کول) او د ابوبکر مونځ هم دغه شان وو. هر کله چه د حضرت عمر زمانه شوه نو هغوی د سحر مونځ لره اوږد کړو. او رسول الله چه به کله سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اووے. نو د دومره وخته پورے به ولاړ وو چه مونږ خلقو به اووے. چه کیدے شی د حضور ﷺ هیر وی. بیا چه به سجدے له لاړو. نو د دوارو سجدو په مینځ کښې به د دومره وخته پورې ناست وو. چه مونږ به اووے چه د هغۀ هیر شو.

بَابُ مُتَابَعَةِ الْإِمَامِ وَالْعَمَلِ بَعْدَهُ

باب: د امام تابعداری کول او یو کار د امام نه روستو کولو بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ وَهُوَ

د عبد الله بن یزید نه روایت دے. ما ته براء بن عازب حدیث بیان

غير كَذُوبٍ أَنَّهُمْ كَانُوا يُصَلُّونَ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ أَرَ أَحَدًا يَحْنِي ظَهْرَهُ حَتَّى يَضَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَبْهَتَهُ عَلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَخِرُّ مَنْ وَرَاءَهُ سُجَّدًا

کړو. هغه دروغجن نه وو صحابه به په رسول الله ﷺ پسې مونځ کولو بیا چه هر کله به هغه د رکوع نه سر اوچت کړو. نو ما چا لره خپله شا ښکته کړې نه دے لیدلې. تر دے پورے چه رسول الله ﷺ به خپل تندے په زمکه باندے کیښودو. د هغې نه پس به ټول خلق په هغه پسې روستو سجدے له تلو[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ وَهُوَ غَيْرُ كَذُوبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَقَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا ثُمَّ نَقَعُ سُجُودًا بَعْدَهُ

د عبد الله بن یزید نه روایت دے. ماته براءؓ بیان کړے دے. او هغه دروغجن نه وو. ویلې دی چه محمد رسول الله ﷺ چه به کله سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اووے. نو زمونږ نه به څوک نه ښکته کیدو (د سجدے دپاره) دکومې پورے چه به رسول الله ﷺ سجدے له نه وو تلے. بیا به مونږ د هغه ﷺ نه روستو سجدے له تلو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ حَدَّثَنَا الْبَرَاءُ أَنَّهُمْ كَانُوا يُصَلُّونَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَكَعَ رَكَعُوا وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ لَمْ نَزَلْ قِيَامًا حَتَّى نَرَاهُ قَدْ وَضَعَ وَجْهَهُ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ نَتَّبِعُهُ

عبد الله بن یزید په ممبر باندے ویلې وو. حدیث بیان کړے مونږ ته براء بن عازبؓ چه هغه به د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو. هر کله چه به هغه رکوع کوله. نو مونږ به هم رکوع کوله او هر کله چه به ئے د رکوع نه سر اوچت کړو او سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ به ئے اووے. نو مونږ به ولاړ وو هغې پورے چه د هغهٔ تندے به مو په زمکه باندے ایخودے اولیدو. نو هغه وخت به مونږ هم سجدے له تلو.

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحْنُو أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى نَرَاهُ قَدْ

د براءؓ نه روایت دے. چه مونږ د رسول الله ﷺ سره (مونځ) کولو. نو زمونږ نه به چا خپله شا نه ښکته کوله تر هغې پورے چه رسول

---

[1] دا چه کوم په دے روایت کښې دی. هغه دروغجن نه وو. د عبد الله بن یزید قول دے. او د هغې نه مقصود داد ے. چه براء خو صحابي وو او صحابه کرام رضی اله عنهم ټول ثقه دی. په هغوی باندے د دروغو ویلو ګمان نه شي کیدے. نو د حدیث په صحت کښې څهٔ شبه نشته. او ابن معین چه کوم ویلې دی. چه دا قول د ابوسحٰق دے. او مطلب داد ے چه عبد الله بن یزید درغجن نه وو نو دا خطا ده سوا دد ے نه چه عبد الله بن یزید هم صحابي دے. دد ے حدیث نه دا وتلې دی. چه مقتدی به د سجدے دپاره نه ښکته کیږی. د کومې پورے چه امام خپل تندے په زمکه باندے نه وی لګولے. البته کهٔ چرے د زر د سر اوچتولو یره وی. نو څهٔ مضائقه نشته دے چه د امام سره سجدے له لاړ شي خو سنت دغه دی. چه هر یو رکن لره د امام د شروع کولو نه پس شروع کړی (نوویؒ مختصراً).

سَجَدَ

الله ﷺ به ئې په سجده نه وو ليدلے.

عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفَجْرَ فَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ وَكَانَ لَا يَحْنِي رَجُلٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَسْتَتِمَّ سَاجِدًا

د عمرو بن حريث رضی الله عنه نه روايت دے. چه ما په رسول الله ﷺ پسے د سحر مونځ کولو. نو ما واوريدل د هغهٔ ﷺ نه فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ (يعنی سورة اذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ) لوستلو لره. او زمونږ نه به چا خپله شا نه ښکته کوله د کومے پورے چه به هغه ﷺ پوره سجدے له تللے نه وو.

بَاب مَا يَقُولُ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ

باب: کله چه د رکوع نه سر اوچت کړے نو څهٔ به وائے

عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ

د عبد الله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چه به کله د رکوع نه خپله شا اوچتوله نو فرمايل به ئې سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اخره پورے. يعنی اوری الله څوک چه د هغهٔ تعريف کوی. يا الله ستا تعريف کوم په آسمانونو. او په زمکه. او کوم څيز چه ته غواړے د هغے نه پس په هغے[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَدْعُو بِهٰذَا الدُّعَاءِ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ

د عبد الله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به دا دعا کوله: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاءِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ اَللّٰهُمَّ طَهِّرْنِي بِالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَالْمَاءِ

د عبد الله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ به دا سے فرمايل يا الله ستا په تعريف د وی آسمانونه ډک او زمکه ډکه او بيا چه کوم څيز ته غواړے هغه ډک. يا الله ما پاک کړه د واورے او د ږلئ او د يخو اوبو نه. يا الله پاک کړه ما د ګناهونو نه او د خطايانو

[1] . امام نووی رحمه الله ويلی دی. ددے مطلب دادے. چه کهٔ چرے د الله تعالی د تعريف جسم وے نو زمکه آسمان به تر نه ډکيدل. ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د مقتدی او امام د تولو د پاره دا دُعا لوستل مسنون دی.

الْبَارِدِ اَللّٰهُمَّ طَهِّرْنِيْ مِنَ الذُّنُوْبِ وَالْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْوَسَخِ

نه. لکه سپینه کپړه چه صفا شی د خیرونه[1].

عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ قَالَ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به چه کله د رکوع نه سر اوچتوو نو فرمایل به ئے: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ د آخره پورے پروردګاره زمونږ ستا ثنا وایو په اندازه د آسمانونو نه ډکه او په اندازه د زمکے نه ډکه او په اندازه بیا چه کوم څیز ته غواړے. د هغے نه پس هغه ډک، ته لائق ئے د تعریف او د بزرګئ ډیره رښتونے خبره ده کومه چه بنده او کړه (او مونږ ټول ستا بندیګان یو) دا ده. اے الله! څۀ چه ته ورکوے هغه څوک منع کولے نۀ شی. او چاله چه نۀ ورکوے. د هغه څوک ورکولو والانشته د کوشش کونکی کوشش ستا په مخکښې فائده نه ورکوی (بلکه ته چه څۀ غواړے هغه کیږی)[2].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ قَالَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءُ مَا

د ابن عباس نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ چه به کله د رکوع نه سر اوچتولو نو ویل به ئے: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ د اخره پورے. یعنی اے پروردګاره مونږ لره هم ستا تعریف مناسب دے چه آسمانونو او زمکے لره او څۀ چه ددوی په مینځ کښې دی او د هغوی نه علاوه څۀ چه تۀ

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی. دا مبالغه ده مجازاً د ګناهونو نه د پاک کیدو دپاره. او ګناه او خطا یو دی. یا د ګناه نه د بندیګانو حق مراد دے. او د خطا نه د الله حق مراد دے.

[2] ددے دُعا لوئے فضیلت ثابت شو. چه د بنده په ټولو خبرو کښې دا د هر څۀ نه اوچته ده. او ولے به نۀ وی. په دے کښې د خداوند کریم د هر امر لره سپارل دی. او بیان دے د بندیګانو د عاجزئ. او د شهنشاه مالک د قدرت کامله. سبحان الله!

ددنیا د کارونو او مقصدونو دپاره خلق کوشش کوی. او ډیر خلق په کوشش سره د فائدے د کیدو هم قائل دی. خو د ډیر لوئے فکر او غور نه پس دا خبرا وخې چه د هر مقصد دپاره په زرګونو اسباب وی. او ددغه اسبابو نه د ډیر اتفاق او د غیر اختیاری اسبابو جمع کول دبنده د قدرت نه بهر دی. پس د هر یو مقصد حاصلول د بنده د قدرت نه بهر دی. او هر کله چه بهر شول نو په تقدیر الهی باندے شاکر اوسیدل. او په ظاهر کښې د دروغو مروغو دنیا دارو د ملامتیا نه د بچ کیدو دپاره د لاسو خپو خوځول لیکن اعتماد او بهروسه په خدائے پاک باندے ساتل صحیح دی. د علماؤ فضلاؤ او عُرفاؤ دغه طریقه ده. او په دغے کښې آرام دے. او د فکر او غم نه خلاصے دے. ددے په خلاف کښې تباهی، بربادی، او مصیبت دے. زۀ خو د تدبیر ډیر خلاف یم. د ټولو نه مخکښې لړ شان د تدبیر قائل وم اوس نۀ یم او په خدائے باندے اعتماد کولو لره بنۀ ګنړم. يَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَاءُ وَيَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ (مترجم د اردو کتاب)

شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ

غواړے هغوی لره ډک کړی ته تعریف او لوئی والا یے څه چه ته ورکول اوغواړے څوک ئے منع کونکے نشته او څه چه ته منع کړے نو څوک ورکونکے نشته او د چا د لوئی ستا په مخکښ څه حیثیت نشته

بَاب النَّهْيِ عَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

باب: په رکوع او سجده کښ د قرآن لوستلو ممانعت

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَشَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السِّتَارَةَ وَالنَّاسُ صُفُوفٌ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنْ مُبَشِّرَاتِ النُّبُوَّةِ إِلَّا الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ أَلَا وَإِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَقْرَأَ الْقُرْآنَ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ عَزَّ وَجَلَّ وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ قَالَ أَبُو بَكْرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سُلَيْمَانَ

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ پرده اوچته کړه (په مرض موت کښ) او خلقو په ابوبکر رضی الله عنه پسے صف تړلے ولاړ وو. هغهٔ اوفرمایل خلقو! اوس د نبوت په خوشخبرئ ورکولو کښ څهٔ پاتے نهٔ شو (ځکه چه په ما د پیغمبرئ خاتمه اوشوه) مګر نیک خوب چه هغے لره مسلمان اووینی یا هغهٔ ته اوښودلے شی. او تاسو ته معلومه ده چه زهٔ په رکوع او په سجده کښ د قرآن د لوستلو نه منع کړے شوے یم. په رکوع کښ تاسو د خپل رب لوئی بیانوئ (یعنی سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْعَظِیْم وایئ) او د سجدے دننه په دُعا کښ کوشش کوئ په دعا کښ نو ستاسو دُعا به قبوله وی[1].

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَشَفَ رَسُولُ

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ پرده اوچته

---

[1] نووی ویلی دی دد ے حدیث نه په رکوع او سجدو کښ د قرآن د لوستلو ممانعت ثابت شو. بلکه په رکوع کښ به صرف تسبیح وائی او په سجده کښ به تسبیح او دُعا کوی. کهٔ چرے چا په رکوع یا سجده کښ د سورۃ فاتحے د قرات نه سوا بل څهٔ سورۃ اولوستو نو مکروه دے. (په رکوع او سجده کښ سوره فاتحه لوستل بم عند الاحناف جائز نهٔ دی. ۱۲ عارف). لیکن مونځ پر نهٔ باطلیږی. او د سورۃ فاتحے په لوستلو کښ دوه قولونه دی. یو دا چه د نورو سورتونو په شان مکروه دے. او مونځ پر نهٔ باطلیږی. او دویمه دا چه حرام دے او مونځ پر هم باطلیږی. او دا هله دی چه قصداً ئے اولولی. او څوک چه ئے په هیره سره اولولی نو مونځ به مکروه نهٔ وی. لیکن د امام شافعی رحمه الله په نزد به په دواړو صورتونو کښ سجده سهوه کوی. او علماؤ په رکوع کښ سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْعَظِيْم. او په سجده کښ سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى درے درے خله ویل مستحب ګنړلی دی. کهٔ چرے یو خلے اوویلے شی نو هم کافی دے. او دا تسبیح په رکوع او سجده کښ سنت دی. واجب نهٔ دی. د مالک، اوبوحنیفه او شافعی رحمهم الله دغه قول دے. او د امام احمد رحمه الله او د اهل حدیثو د یو ډلے په نزد د ظاهر دلیل په وجه سره واجب دی.

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السِّتْرَ وَرَأْسُهُ مَعْصُوبٌ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنْ مُبَشِّرَاتِ النُّبُوَّةِ إِلَّا الرُّؤْيَا يَرَاهَا الْعَبْدُ الصَّالِحُ أَوْ تُرَى لَهُ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ سُفْيَانَ

کړه. او په مرضِ موت کښې د هغهٔ په سر مبارک باندے پټۍ تړلے شوے وه. نو اوئې فرمایل اے الله! ما (ستا پیغام) اورسوو. درے ځله ئې دغه شان اوفرمایل. اوس د نبوت په خبر ورکونکو والاکښې څهٔ څیز نهٔ دے پاتې مګر نیک خوب چه هغے لره نیک بنده اووینی. یا د هغهٔ دپاره اوښودلے شی. د دے نه پس ئې هغه شان بیان اوکړو لکه څنګه چه پورته تیر شو.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ نَهَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْقِرَاءَةِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ وَلَا أَقُولُ نَهَاكُمْ

د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے. چه زهٔ رسول الله ﷺ په رکوع او سجده کښې د قرآن لوستلو نه منع کړے یم. او زهٔ دا نهٔ وایم چه تاسو ئې منع کړی یئ[1].

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ نَهَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَأَنَا رَاكِعٌ أَوْ سَاجِدٌ

حضرت علی رضی الله عنه ویلی دی ما لره خما محبوب (یعنی رسول الله ﷺ) په رکوع او سجده کښې د قرآن لوستلو نه منع کړے یم.

عَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ قَالُوا نَهَانِي عَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَأَنَا رَاكِعٌ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِي رِوَايَتِهِمُ النَّهْيَ عَنْهَا فِي السُّجُودِ

حضرت علی رضی الله عنه ویلی دی. چه زهٔ رسول الله ﷺ په رکوع کښې د قرآن لوستلو نه منع کړے یم. او په دے روایت کښې د سجدے ذکر نشته.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ نُهِيتُ أَنْ أَقْرَأَ وَأَنَا رَاكِعٌ لَا يَذْكُرُ فِي الْإِسْنَادِ عَلِيًّا

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه زهٔ په رکوع کښې د قرآن لوستلو نه منع کړے شوے یم په دے اسناد کښې د حضرت علی رضی الله عنه ذکر نشته

بَاب مَا يُقَالُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

باب: په رکوع او سجده کښې څهٔ ویل پکار دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه بنده په سجده کښې خپل پروردګار ته ډیر نژدے وی. نو په سجده کښې ډیره دُعا کوئ[1].

---

[1] د دے نه دا غرض نهٔ دے چه تاسو ته په رکوع یا سجده کښې د قرآن د لوستلو اجازت دے بلکه د ټولو دپاره ممانعت دے خو احتیاطًا حضرت علی رضی الله عنه د حدیث په نقل کولو کښې دومره تصرّف هم جائز نهٔ دے ایخودے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به په سجده كښې دا دُعا كوله: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي د آخره پورے. يعنى اے الله او بخښے خما ټول گناهونه كهٔ لږ وى يا ډير، اول وى يا آخر كهٔ پټ وى يا ښكاره.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبْحَانَكَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ

د امُّ المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے. رسول الله ﷺ به پخپله ركوع او سجده كښې اكثر دا فرمايلو: سُبْحَانَكَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ په قرآن كښې هم وارد دى[2].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا هٰذِهِ الْكَلِمَاتُ الَّتِي أَرَاكَ أَحْدَثْتَهَا تَقُولُهَا قَالَ جُعِلَتْ لِي عَلَامَةٌ فِي أُمَّتِي إِذَا رَأَيْتُهَا قُلْتُهَا إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ إِلَى آخِرِ السُّورَةِ

د امُّ المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے. رسول الله ﷺ به اكثر د وفات نه وړاندے فرمايلو. سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ما عرض او كړو يا رسول الله ﷺ څهٔ كلمے دى چه دے لره تا راويستلى دى؟ او تهٔ هغے لره وائے. هغهٔ ﷺ او فرمايل چه خدائے خما دپاره يو نخښه مقرر كړے ده خما په امت كښې هر كله چه زهٔ هغے ته گورم. نو دغه كلمو لره وايم إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ د آخرى سورة پورے[3].

---

[1]: نووى ويلى دى مراد دا دے چه نږدے وى هغه په رحمت او فضل سره. او په دے حديث كښې رغبت دے په سجده كښې د دُعا دپاره. او دليل دے د هغه سړى چه هغهٔ سجدے لره د قيام نه غوره ښودلى ده. او په دے باب كښې درے قولونه دى: يو دا چه په سجده كښې ډير وخت تيرول او سجده او ركوع زيات كول د اوږد قيام نه غوره دى. هغے لره ترمذى او بغوى رحمهما الله د علماؤ د يوټولگى نه نقل كړى دى او ابن عمر رضى الله عنه هم د سجدے اوږدولو لره غوره گنړى. دويمه دا چه اوږد والے د قيام غوره دے. د امام شافعى رحمه الله دغه مذهب دے ولے چه د جابر رضى الله عنه روايت په صحيح مسلم كښې موجود دے. چه غوره مونځ هغه دے چه په هغے كښې اوږد قيام وى. او د قيام ذكر قراءت دے او د سجدے ذكر تسبيح ده. او قراءت او د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه منقول دے. چه هغه به په قيام كښې د سجدے نه زيات اوږد والے كوو. دريمه دا چه په غوره والى كښې دواړه برابر دى. او امام احمد رحمه الله په دے مسئله كښې چپ والے كړے دے. او څهٔ حكم ئے نهٔ دے وركړے. اسحاق بن راهويه رحمه الله ويلى دى چه د ورځے ركوع او سجده زيات كول غوره دى او د شپے قيام زيات كول (نووى)

[2]: په قرآن كښې دا وارد دى فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ. د دے موافق به هغهٔ صلى الله عليه وسلم تسبيح او استغفار ډير كولو.

[3]: سورة إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ د مكے د فتح كيدو نه پس نازل شوے دے. هر كله چه اسلام خور شو او خلق ټولى ټولى مسلمانان كيدل شروع شو نو الله تعالى په دے سورة كښې خپل پيغمبر عليه الصلوة والسلام لره د خوشحالى خبر وركړو او ورته ئے فرمايل او س د خدائے

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ نَزَلَ عَلَيْهِ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحِ يُصَلِّي صَلَاةً إِلَّا دَعَا أَوْ قَالَ فِيهَا سُبْحَانَكَ رَبِّي وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے. رسول الله ﷺ لره اوليدو. د كله نه چه إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ نازل شو. نو هغهٔ چه به كله مونځ كولو نو دُعا به ئے كوله او فرمايل به ئے. سُبْحَانَكَ رَبِّي وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي (يعنى اے خما ربه ته پاك ئے او شكر دے ستا يا الله او بخښے ما لره)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَرَاكَ تُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فَقَالَ خَبَّرَنِي رَبِّي أَنِّي سَأَرَى عَلَامَةً فِي أُمَّتِي فَإِذَا رَأَيْتُهَا أَكْثَرْتُ مِنْ قَوْلِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فَقَدْ رَأَيْتُهَا إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحِ فَتْحُ مَكَّةَ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللهِ أَفْوَاجًا فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے. رسول الله ﷺ به پخپله ركوع او سجده كښې اكثر دا فرمايلو: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ وائى چه بيا ما عرض اوكړو يا رسول الله! زهٔ ګورم چه تاسو سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ زيات وائي. نو هغهٔ ﷺ اوفرمايل ماته خما رب بيان كړے دے چه ته به په خپل امت كښې يوه نخښه وينې. بيا چه هر كله زهٔ هغې نخښے لره وينم نو تسبيح وايم يعنى دغه سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ وايم. هغه نخښه داده. إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ د آخره پورے. يعنى هر كله چه د الله مدد راغے او مكه فتح شوه. او خلق د الله په دين كښې فوج فوج شامليدل شروع شو نو د الله تعالى تعريف اوكړه. د هغهٔ پاكى بيان كړه. او بخښنه اوغواړه د هغهٔ نه هغه بيشكه بخونكے دے.

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ قُلْتُ لِعَطَاءٍ كَيْفَ تَقُولُ أَنْتَ فِي الرُّكُوعِ قَالَ أَمَّا سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ افْتَقَدْتُ النَّبِيَّ

د ابن جريج نه روايت دے. چه ما عطاء ته اووے. ته په ركوع كښې څهٔ وائې؟ هغوى اووے. سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ نو ماته ابن بى مليكه روايت كړے دے. هغوى د حضرت عائشې نه اوريدلى دى. هغوى فرمايلى وو چه ما يوه شپه رسول الله ﷺ لره

پاك پاكى بيان كړئ او استغفار لولئ او ضمنًا په دے سورة كښې د هغهٔ د فات ترد ے كيدو طرفته اشاره ده. ولے چه د نبوت كار پوره شولو

دد ے حديث نه معلومه شوه. چه استغفار په صيغه د متكلم صحيح دے. او بعضو دے لره مكروه ګنړلى دى په دے خيال سره چه چرته بيا ګناه او نهٔ كړى او په دروغو كښې مبتلا شى. خو غوره داده. چه داسے اووائى: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَظَنَنْتُ أَنَّهُ ذَهَبَ إِلَى بَعْضِ نِسَائِهِ فَتَحَسَّسْتُ ثُمَّ رَجَعْتُ فَإِذَا هُوَ رَاكِعٌ أَوْ سَاجِدٌ يَقُولُ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ فَقُلْتُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي إِنِّي لَفِي شَأْنٍ وَإِنَّكَ لَفِي آخَرَ

پخپله خواه کښې لوڼه موندلو. نو زهٔ پوهه شوم چه کیدے شی هغه ﷺ د بلے یوے بی بی خواله تلے وی نو ما لټون کولو. بیا چه واپس شوم نو هغه ﷺ په رکوع یا سجده کښې وو. اوفرمایل نے. سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ ما ووے. خما پلار مور دِ پتا صدقه شی زهٔ په څهٔ خیال کښې وم. او ته په څهٔ کار کښې مصروف نے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فَقَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ الْفِرَاشِ فَالْتَمَسْتُهُ فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُمَا مَنْصُوبَتَانِ وَهُوَ يَقُولُ اَللّٰهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے. چه ما یوه شپه په بستره باندے رسول اللهﷺ اونهٔ موندو. نو ما لټون کولو. نو خما لاس د هغهٔ د خپو په تلی باندے اولګیدو. او هغهٔ په سجده کښې وو دواړه خپے نے اودرولے وے اوفرمایل نے: اَللّٰهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ د آخره پورے. یعنی اے خما الله! زهٔ پناه غواړم. ستا د رضامندئ سره ستاد غصے نه. او ستا په بخښنه سره ستا د عذاب نه او زهٔ ستا نه ستا پناه غواړم. ما ته ستا د تعریف کولو طاقت نشته دے. نو دا داسے ده لکه تا چه په خپله خپل تعریف اوکړو[1].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ به په خپله رکوع او سجده کښې ویل چه: سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ. یعنی پاک دے هغه خداوند برکت والا پروردګار د فرښتو او د جبرائیل علیه السلام[2].

بَابُ فَضْلِ السُّجُودِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ

باب: د سجدے فضیلت او ترغیب

عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيِّ قَالَ

د معدان بن ابی طلحه یعمریؓ نه روایت دے. چه زهٔ د ثوبانؓ سره

---

[1] په دے حدیث کښې د هغه خلقو دلیل دے چه هغه وائی د ښځے په لاس لګیدو سره اودس نهٔ ماتیږی. د ابوحنیفه رحمه الله دغه قول دے. خو د مالک، و شافعی او احمد رحمهم الله او اکثرو علماؤ مذهب دا دے. چه د ښځے سره په لګیدو باندے اودس ماتیږی. په دے حدیث کښې تاویل کوی. چه کیدے شی دغه لګیدل د پردے دپاسه وی او هغه ضرر نهٔ کوی.

[2] روح یوه لویه فرښته ده. یا حضرت جبرائیل علیه السلام ته ویلے شی. یا روح یو مخلوق دے چه هغے لره فرښتے نه وینی. لکه څنګه چه مونږ فرښتے نهٔ وینو (نووی رحمه الله)

لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ أَوْ قَالَ قُلْتُ بِأَحَبِّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ فَسَكَتَ ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَسَكَتَ ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ سَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلّٰهِ فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً قَالَ مَعْدَانُ ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لِي مِثْلَ مَا قَالَ لِي ثَوْبَانُ

ملاؤ شوم . چه د رسول الله ﷺ (آزاد کړے) غلام وو. او ورته م اووے. چه ماته داسے کار اوښايه چه د هغے په وجه سره الله پاک ما جنت ته بوځي يام داسے اووے. چه ماته هغه کار اوښايه چه هغه په ټولو کارونو کښې زيات الله ؓ ته غوره دے. ددے په اوريدو سره ثوبان ؓ چپ پاتے شو. بيام تر نۀ تپوس اوکړو نو چپ پاتے شو. بيا چه په دريم ځل م تر تپوس اوکړو. نو اوئے ويل ما هم د رسول الله ﷺ نه تپوس کړے وو نوهغۀ ﷺ فرمايلي وو. تۀ سجدے ډيرے کوه. په دے واسطه به په هره يوه سجده سره الله تعالى ستا يوه درجه اوچتوي.او ستا يو ګناه به معاف کوي. معدان وائي بيا زۀ د ابوالدّرداء ؓ سره ملاؤ شوم نو هغوی هم هغه شان اووے لکه چه ثوبان ؓ ويلي وو.

عَنْ رَبِيعَةَ بْنَ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ فَقَالَ لِي سَلْ فَقُلْتُ أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ قَالَ أَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ قُلْتُ هُوَ ذَاكَ قَالَ فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ

د ربيعه بن كعب اسلمي ؓ نه روايت دے چه زه به د شپے درسول الله ﷺ سره پاتے کيدم او هغۀ له به م د اودس او حاجت دپاره اوبۀ راوړلے . يو ځل هغۀ ﷺ اوفرمايل. غواړه . څۀ غواړے؟ ما عرض اوکړو. چه په جنت کښې ستا رفاقت غواړمه. هغۀ اوفرمايل نور څۀ ؟ما اووے بس هم دغه غواړم. هغۀ ﷺ اوفرمايل. ښه ده په کثرت د سجدو سره ته خما مدد کوه[1].

بَابُ أَعْضَاءِ السُّجُودِ وَالنَّهْيِ عَنْ كَفِّ الشَّعْرِ وَالثَّوْبِ وَعَقْصِ الرَّأْسِ فِي الصَّلَاةِ

باب : د سجدے اندامونه . د ويختو او د کپړو راغونډولو ممانعت د ويختو د څټ د پاسه د تړلو په مانځۀ کښې .

[1] يعني اكثر سجدے کوه نو اُميد دے. خما ملګرتيا به تاته په جنت کښې ميلاؤ شي. ولے چه سجده هغه عبادت دے. چه په هغے کښې بنده ته د خدائے زيات نزديکت حاصليږي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أُمِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةٍ وَنُهِيَ أَنْ يَكُفَّ شَعْرَهُ وَثِيَابَهُ هٰذَا حَدِيثُ يَحْيٰى و قَالَ أَبُو الرَّبِيعِ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ وَنُهِيَ أَنْ يَكُفَّ شَعْرَهُ وَثِيَابَهُ الْكَفَّيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ وَالْجَبْهَةِ

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ ته په اووه هډوکو باندے د سجدے حکم ورکړے شوے دے. او د ویختو او د کپړو د راغونډولو نه منع کړے شوے دے. دا د یحیٰی روایت دے. او ابو الرّبیع ویلی دی چه په اووه هډوکو باندے د سجدے کولو حکم شوے دے، او د ویختو او د کپړو د راغونډولو ممانعت شوے دے. هغه اووه هډوکی دادی. دواړه ورغوی، دواړه زنګونان، دواړه خپے، او تندے[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ وَلَا أَكُفَّ ثَوْبًا وَلَا شَعْرًا

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی ما ته په اووه هډوکو باندے د سجدے کولو او د کپړو او د ویختو د نۀ راغونډولو حکم شوے دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةٍ أَعْظُمٍ الْجَبْهَةِ وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ وَالْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَلَا الشَّعْرَ

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی ما ته حکم اوشو په اووه هډوکو باندے د سجدے کولو په تندی باندے او اشاره اوکړه هغه ﷺ په خپل لاس سره په پوزه باندے، په دواړو لاسونو باندے په دواړو زنګونانو باندے. او دواړو خپو په ګوتو باندے. او حکم راته شوے دے د کپړو او د ویختو د نۀ راغونډولو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی ما ته حکم شوے دے په اووه اندامونو باندے د سجدے کولو، د

---

[1] ددے نه معلومه شوه چه د سجدے اووه اندامونه دی. او سجدے کولو والا لره دغه ټول اعضاء د زمکے سره لګول پکار دی. او سجده په تندی او پوزه دواړو باندے کول پکا ردی. لیکن تندی لره بنه په زمکه باندے ایخودل واجب دی. او پوزه په زمکه باندے لګول مستحب دی. کۀ چرے پوره نے اولګوله او تندے نے او نۀ لګوو نو سجده به صحیح نۀ وی. د امام مالک او امام شافعی رحمهما الله او اکثر علماؤ دغه قول دے. او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز په دواړو کښ د یو په زمکه باندے لګول پوره دی او د امام احمد او ابن حبیب رحمه الله په نز د ظاهر حدیث په وجه د دواړو په زمکه باندے لګول ضروری دی. او اکثر علماؤ ویلی دی. د ظاهر حدیث په موجب پوزه او تندے د یو اندام په حکم کښ دی. ګنی د سجدے اندامونه به اته شی. دواړه لاس، دواړه زنګونان، دواړه خپے، پوزه او تندے

د ویختو او د کپړو د راغونډولو نه منع کړے شوے دے. د ویختو راغونډول دادی. چه په سر باندے نے د جوړے په شکل غوټه کړی دغه شان په اتفاق د علماؤ مونځ کول مکروه دی.

عَلٰى سَبْعٍ وَلَا أَكُفِتَ الشَّعْرَ وَلَا الثِّيَابَ الْجَبْهَةِ وَالْأَنْفِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ

ویختو او کپړو د نه راغونډولو. هغه اووه اندامونه دادی تندے او پوزه ، دا دواړه د یو اندام په حکم کښی دی، دواړه لاسونه ، داوړه زنګونان دواړه خپے یعنی قدمونه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ رَأَى عَبْدَ اللهِ بْنَ الْحَارِثِ يُصَلِّي وَرَأْسُهُ مَعْقُوصٌ مِنْ وَرَائِهِ فَقَامَ فَجَعَلَ يَحُلُّهُ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ مَا لَكَ وَرَأْسِي فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا مَثَلُ هٰذَا مَثَلُ الَّذِي يُصَلِّي وَهُوَ مَكْتُوفٌ

عبدالله ابن عباسؓ عبد الله بن حارثؓ لره اولیدو چه هغه خپل د سر ویختهٔ د ختٖ دپاسه غوټه کړی وو او مونځ ئے کولو . نو عبد الله بن عباسؓ هغے لره پرانستل. هر کله چه هغه د مانځهٔ نه فارغ شو. نو تپوس ئے اوکړو. تا څما په سر کښی ولے ګوتے وهلے. عبد الله بن عباسؓ اوے ما د رسول اللهﷺ نه اوبدلی دی . هغه فرمایلی وو. کوم سړے چه ویختهٔ په ختٖ دپاسه غوټه کړی او مونځ کوی . د هغهٔ مثال داسے دے لکه څوک چه ستر کهولاؤ کړی او مونځ اوکړی [1].

بَابُ الْاِعْتِدَالِ فِي السُّجُوْدِ وَوَضْعِ الْكَفَّيْنِ عَلَى الْأَرْضِ وَرَفْعِ الْمِرْفَقَيْنِ عَنِ الْجَنْبَيْنِ وَرَفْعِ الْبَطْنِ عَنِ الْفَخِذَيْنِ فِي السُّجُوْدِ

باب : په آرام سره سجده کول او دواړه ورغوی د زمکے سره د لګولو او دواړو څنګلو لره د تشو نه او خیټے لره د زنګونانو نه د جدا ساتلو بیان

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ وَلَا يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ

د انسؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه په سجده کښی خپلو اندامونو لره برابر اړدئ او څوک د ستاسو نه خپلو څنګلو لره په زمکه نهٔ غوړوی [2].

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ

د براءؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمایلی دی. چه هر کله تهٔ سجده کوے نو خپل ورغوی په زمکه باندے اږده . او څنګلے د زمکے نه اوچتوه.

---

[1] ددے نه معلومیږی چه د مانځهٔ اعاده ضروری ده. کچرے د ترلو ویختو سره ئے کړے وی. لیکن د جمهور علماؤ په نزد دویاهر کول ضروری نهٔ دی. بلکه مونځ به مکروه وی.

[2] یعنی څنګلے به په زمکه نهٔ لګوی. او نهٔ به ئے د پختو سره میلاووی. بلکه څنګلے به د زمکے نه اوچتے ساتی دومره چه کهٔ قمیص نه چه ترخونه په نظر راځی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا صَلَّى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ

د عبد الله بن مالک بن بحینه نه روایت دے. بُحینه د عبد الله د مور نوم دے د مالک د بی بی) رسول الله ﷺ چه به کله مونځ کوو نو دواړو لاسونو لره به ئے (تشو نه) جدا ساتل. دومره چه د هغهٔ د ترخونو سپین والے به ښکاره شولو.

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيْعَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي رِوَايَةِ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ يُجَنِّحُ فِي سُجُوْدِهِ حَتَّى يُرَى وَضَحُ إِبْطَيْهِ وَفِي رِوَايَةِ اللَّيْثِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَجَدَ فَرَّجَ يَدَيْهِ عَنْ إِبْطَيْهِ حَتَّى إِنِّي لَأَرَى بَيَاضَ إِبْطَيْهِ.

د جعفر بن ربیعه نه په دویم روایت کښې هم دغه شان دی لکه چه پورته ذکر شو د عمرو بن الحارث په روایت کښې دا دی چه رسول الله ﷺ چه به کله سجده کوله نو دواړه لاسونه به ئے بیرته ایخودل (یعنی د تشو نه به ئے جدا ساتل) تر دے پورے چه د هغهٔ ﷺ د ترخونو سپین والے به ښکاریدلو او د لیث په روایت کښې داسے دی چه رسول الله ﷺ چه به کله سجده کوله نو دواړه لاسونه به ئے د ترخونو نه جدا ساتل. تر دے پورے چه ما به د هغهٔ ﷺ د ترخونو سپین والے لیدلو.

عَنْ مَيْمُوْنَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ لَوْ شَاءَتْ بَهْمَةٌ أَنْ تَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لَمَرَّتْ

د أُمُّ المؤمنین میمونې نه روایت دے. رسول الله ﷺ چه به کله په سجده کښې وو. هغه وخت کهٔ چرے د بزے بچی د هغهٔ د لاسونو په مینځ کښې وتل غوښتے نو وتلے شو[1].

عَنْ مَيْمُوْنَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ خَوَّى بِيَدَيْهِ يَعْنِي جَنَّحَ حَتَّى يُرَى وَضَحُ إِبْطَيْهِ مِنْ وَرَائِهِ وَإِذَا قَعَدَ اطْمَأَنَّ عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى

د أُمُّ المؤمنین میمونې نه روایت دے. رسول الله ﷺ چه به کله سجده کوله نو دواړو لاسونو لره به ئے (د تشو نه) دومره جدا ساتل چه د هغهٔ د ترخونو سپین والے به د روستو نه لیدلے شو. او کله چه به کیناستلو نو په خپل گس پتون باندے به ئے تکیه کوله[2].

عَنْ مَيْمُوْنَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا سَجَدَ جَافَى حَتَّى يُرَى مَنْ خَلْفَهُ وَضَحُ إِبْطَيْهِ قَالَ وَكِيْعٌ يَعْنِي بَيَاضَهُمَا

د أُمُّ المؤمنین میمونې نه روایت دے. رسول الله ﷺ چه به کله سجده کوله نو دواړو لاسونو لره به ئے جدا ساتل تر دے پورے چه د روستو نه به د هغهٔ د ترخونو سپین والے په نظر راتلو.

---

[1] یعنی لاسونه به ئے دومره بیرته ایخودل چه د هغے د لاندے نه به د بزے بچے وتلے شو.

[2] امام نووی رحمه الله وائی چه دا په رومبی قعده کښې دی لیکن په آخری قعده کښې تورک سنت دے. چه هغے لره امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې د ابوحمید ساعدی نه روایت کړے دے. تورک دا دے چه دواړو خپو لره به یو طرفته اوباسی او په کُناتو باندے به کینی.

بَابُ مَا يَجْمَعُ صِفَةَ الصَّلَاةِ وَمَا يُفْتَتَحُ بِهِ وَيُخْتَمُ بِهِ وَصِفَةَ الرُّكُوعِ وَالِاعْتِدَالِ مِنْهُ وَالسُّجُودِ وَالِاعْتِدَالِ مِنْهُ وَالتَّشَهُّدِ بَعْدَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ مِنَ الرُّبَاعِيَّةِ وَصِفَةَ الْجُلُوسِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَفِي التَّشَهُّدِ الْأَوَّلِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَكَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَائِمًا وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ جَالِسًا وَكَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى وَكَانَ يَنْهٰى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ وَيَنْهٰى أَنْ يَفْتَرِشَ الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيمِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ نُمَيْرٍ عَنْ أَبِي خَالِدٍ وَكَانَ يَنْهٰى عَنْ عَقِبِ الشَّيْطَانِ

باب: د مونځ د طریقې جامعیت او د څهٔ نه چه مونځ شروع کیږي، د هغې بیان. د رکوع او د سجدې طریقه او دوی کښې د برابری بیان په څلور رکعتیز مونځ کښې د هر دواو رکعتونه پس دتشهد بیان. د دواړو سجدو په مینځ او د اولنی تشهد کښې د ناستې بیان

د اُمّ المؤمنین حضرت عائشې ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ به شروع کوو مانځهٔ لره د الله اکبر ویلو نه او قراءت لره د الحمد لله ربّ العٰلمین نه (نو بسم الله الرّحمٰن الرّحیم به ئې په پټه سره لوستلو) او کله چه به ئې رکوع کوله نو سر به ئې نهٔ پورته ساتلو نه ښکته بلکه (د شا برابر به ئې ساتلو) په درمیان کښې. او کله چه به ئې د رکوع نه سر اوچت کړو نو سجده به ئې نهٔ کوله تر دے پورے چه نیغ به اودریدو او کله چه به ئې د سجدے نه سر اوچت کړو نو دویمه سجده به ئې نهٔ کوله تر دے پورے چه نیغ به کیناستو. او د هر دوه رکعته نه پس به ئې (په قعده کښې) التّحیات لوستل او ګسه خپه به ئې پرته (یعنی خوره) کړه او ښئ خپه به ئې اودروله او منع به ئې کوله د شیطن د ناستې نه. او منع به ئې کوله ددے خبرے نه چه بنده خپل دواړه لاسونه د درندے ځناور پشان په زمکه باندے اوغوړه وی او مونځ به ئې په سلام سره ختمولو[1].

[1]: منع به ئې کوله د شیطان د ناستې نه چه هغې ته اقعاء وائی. هغه دا دے چه دواړو کناتو لره به د زمکې سره اولګوی. او پنډئ به اودروی او دواړه لاسونه به په زمکه باندے کیږدی. لکه چه سپے څنګه کینی. او منع به ئې کوله ددے خبرے نه چه بنده خپلو دواړو لاسونو لره په زمکه باندے اوغوړوی د ځنګلی ځناور پشان. او مونځ به ئې په سلام سره ختمولو. ددے حدیث نه ډیرے مسئلے معلومے شوے. اولنئ دا چه قراءت به د اَلْحَمْدُ لله رَبِّ العٰلمین نه شروع کیږی. دا دلیل دے د امام مالک رحمه الله او د هغه خلقو چه هغه بسم الله لره په سورة فاتحه کښې داخله نهٔ ګنړی. او شافعی رحمه الله او اکثرو علماؤ د هغې دا جواب ورکړے دے. چه مقصود دد عبارت دا دے چه د قرآن د

بَاب سُتْرَةِ الْمُصَلِّي وَالنَّدْبِ إِلَى الصَّلٰوةِ إِلَى سُتْرَةٍ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُرُورِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي وَحُكْمِ الْمُرُورِ وَدَفْعِ الْمَارِّ وَجَوَازِ الْاِعْتِرَاضِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي وَالصَّلٰوةِ إِلَى الرَّاحِلَةِ وَالْأَمْرِ بِالدُّنُوِّ مِنَ السُّتْرَةِ وَبَيَانِ قَدْرِ السُّتْرَةِ وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذٰلِكَ

باب : د مونځ کونکی د سُترے بیان، سُترے ته د مونځ کولو استحباب، او د مونځ کونکی مخے ته د تیریدو ممانعت، تیریدونکی لره تېل وهل او د مونځ کونکی مخکښ د ملاستے د جواز بیان، د ځورلئ طرف ته د مونځ کولو، سُترے ته د نزدے کیدو حکم او د هغے د اندازے بیان او د سُترے سره د تعلق لرونکو نورو مسئلو بیان

عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ

موسٰی بن طلحهؓ د خپل پلار نه روایت کړے ویلی دی. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. هر کله چه ستاسو نه څوک خپلے مخے ته د کجاوے د روستنی لرګی برابر څه کیږدی. نو مونځ د کوی او پرواه

سورتونو نه به ئے روميے دا سورة لوستلو يعنی د الحمد سورة. او دا مطلب نهٔ دے. چه الحمد لله رب العلمين به ئے بغير د بسم الله نه لوستلو. او ډير قسم دليلونه په دی امر باندے قائم شوی دی. چه بسم الله د سورة فاتحے جزء دے. دويمه دا چه په رکوع کښ شا لره د مخکښ روستو نه برابر لره پکار دی. دريمه دا چه هر کله د رکوع نه سر اوچت کړی نو نيغ به اودريږی دغه شان به د دواړو سجدو په مينځ کښ نيغ کينی. څلورم دا چه د هر دوه رکعته نه پس به تشهد لولی. او دا مام احمد بن حنبل رحمه الله او د اهل حديثو په نزد دے حديث په رُو سره دواړه تشهد واجب دی. د مالک او ابوحنيفه رحمهما الله او د اکثرو علماؤ په نزد د دواړو تشهد لوستل سنت دی. او د امام شافعی رحمه الله په نزد روميے تشهد سنت او دويم واجب دے. پنځم دا چه ګسه خپه به غوړه وی يعنی پرته دِ ئے اړدی. او ښی خپه د اودروی په قعده کښ. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد به په دواړو قعدو کښ په دغه شان سره کينی. او د امام مالکؒ په نزد په دواړو قعدو کښ تورک سنت دے. او د امام شافعی رحمه الله په نزد په کومه جلسه پسے چه سلام ګرځول وی په هغے کښ تورک سنت دے. او د تورک بيان پورته تير شوی دے داما م شافعی رحمه الله په نزد په مانځهٔ کښ څلور جلسے دی. يوه د دواړو سجدو په مينځ کښ، د دويم هر رکعت نه پس. دويمے سجدی نه د فراغت موندو سره د قيام نه مخکښ. دے ته جلسهٔ استراحت وائی. دريمه د تشهد اولی جلسه. څلورمه د تشهد اخير جلسه پنځمه دا چه مانځهٔ لره په سلام باندے ختم کړی. د مالک ، شافعی ، احمد رحمهم الله او د جمهورٌ سلفو دغه قول دے. چه سلام فرض دے. او بغير د هغے نه مونځ صحيح نهٔ وی. ليکن د امام ابوحنيفه ، ثوری او اوزاعی رحمهم الله په نزد باندے سلام سنت دے کهٔ چرے او نهٔ ګرځوی نو هم مونځ صحيح کيدے شی. بلکه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندے کهٔ د سلام په بدله څهٔ فعل د مانځهٔ منافی اوکړی لکه حدث وغيره بيا هم مونځ ختميږی (نووی رحمه الله مختصراً)

فَلْيُصَلِّ وَلاَ يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذٰلِكَ

د نهٔ کوی کوم څیز چه غواړی د هغې نه د اخوا څی[1]

عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي وَالدَّوَابُّ تَمُرُّ بَيْنَ أَيْدِينَا فَذَكَرْنَا ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ تَكُونُ بَيْنَ يَدَيْ أَحَدِكُمْ ثُمَّ لاَ يَضُرُّهُ مَا مَرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَقَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ فَلاَ يَضُرُّهُ مَنْ مَرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ

مُوسیٰ بن طلحهؓ د خپل پلار نه اوریدلی دی چه مونږ مونځ کولو او ځناور زمونږ په مخکښې اوریدل. نو رسول اللهﷺ ته مونږ د هغې بیان اوکړو. هغهﷺ اوفرمایل کهٔ چرے د کجاوے د ورستی لرګی برابر څهٔ څیز ستاسو مخے ته وی. نو بیا په مخکښې د څهٔ څیز تلل ضرر نهٔ کوی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ سُتْرَةِ الْمُصَلِّي فَقَالَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ

د أُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے. چه د رسول اللهﷺ نه د تبوک د غزا په دوران د مونځ کونکی د سترے سوال اوشو. هغهٔ اووے. د کجاوے د روستی لرګی برابر (ستره) پکار ده.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيدِ أَمَرَ بِالْحَرْبَةِ فَتُوضَعُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَيُصَلِّي إِلَيْهَا وَالنَّاسُ وَرَاءَهُ وَكَانَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السَّفَرِ فَمِنْ ثَمَّ اتَّخَذَهَا الأُمَرَاءُ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ چه به کله د اختر په ورځ بهر اووتلو. نو خپلے مخے ته به ئے د نیزے د خخولو حکم فرمایلو بیا به ئے د هغے نه شاته مونځ کولو او خلق به په هغهٔ وروسے وو. او دا امر به ئے په سفر کښې کوو. ددغې وجے نه امیرانو دے لره مقرر کړے ده (چه نیزه د خان سره ساتی)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْكُزُ وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَغْرِزُ الْعَنَزَةَ وَيُصَلِّي إِلَيْهَا زَادَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ وَهِيَ الْحَرْبَةُ

د عبد الله ابن عمرؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ به نیزه په زمکه کښې اومنډله او د هغے طرفته به ئے مونځ کولو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْرِضُ رَاحِلَتَهُ وَهُوَ يُصَلِّي إِلَيْهَا

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ به خپله اوښه د قبلے په طرف کړه. او په طرف د هغے به ئے مونځ کولو[1]

---

[1] د کجاوے لرګی ددوه دوه نیمو لاسو برابر وی. ددے حدیث نه معلومه شوه چه صرف په زمکه باندے کرښه راښکودل پوره نهٔ دی. اګرچه یو حدیث په دے باب کښې راغلے دے. چه کرښه راښکودل پوره دی. او د امام احمد رحمه الله دغه قول دے. خو هغه حدیث ضعیف دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي إِلَى رَاحِلَتِهِ وَ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى إِلَى بَعِيرٍ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ به د خپلے اوښے په طرف مونځ کولو. او ابن نمیر ویلی دی چه رسول اللهﷺ به مونځ کولو د اوښ په طرف.

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَهُوَ بِالأَبْطَحِ فِي قُبَّةٍ لَهُ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ قَالَ فَخَرَجَ بِلَالٌ بِوَضُوئِهِ فَمِنْ نَائِلٍ وَنَاضِحٍ قَالَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ سَاقَيْهِ قَالَ فَتَوَضَّأَ وَأَذَّنَ بِلَالٌ قَالَ فَجَعَلْتُ أَتَتَبَّعُ فَاهُ هَا هُنَا وَهَا هُنَا يَقُولُ يَمِينًا وَشِمَالًا يَقُولُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ قَالَ ثُمَّ رُكِزَتْ لَهُ عَنَزَةٌ فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ الْحِمَارُ وَالْكَلْبُ لَا يُمْنَعُ ثُمَّ صَلَّى الْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَدِينَةِ

د ابوجحیفهؓ نه روایت دے. چه زهٔ په مکه کښې د رسول اللهﷺ خواله راغلم. او هغه په ابطح (یو مقام دے په باب مکه باندے) کښې وو د یوے سرے څرمنے په شامیانړ کښې. نو بلالؓ د هغهٔ دپاره د اودسهٔ اوبهٔ په لاس کښې نیولے رااووتو (حضرتﷺ په هغے سره اودس اوکړو بیا چا ته اوبهٔ میلاو شوے او چا ته میلاو نهٔ شوے. نو هغهٔ د بل نه واخستے او په خان ئے واچولے. بیا رسول اللهﷺ سرے جامے اغوستے بهر رااووتو. لکه چه زهٔ دا وخت د هغهٔ د پنډو سپینوالے وینم هغهٔ اودس اوکړو. او بلالؓ اذان ورکړو. ما د هغوی د مخ تابعداری اوکړه چه ښی او گس طرفته اوړیدو او ویل ئے حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة او حَيَّ عَلَى الفلاح بیا د هغهٔﷺ دپاره یو نیزه په زمکه کښې خخه کړے شوه. هغهﷺ ورمخکښې شو او د ماسپخین دوه رکعته ئے اوکړلو (د سفر کولو په وجه سره ئے قصر اوکړو) د هغهٔﷺ مخے ته خرهٔ او سپی تیریدل مگر هغهٔﷺ نهٔ منع کول (ولے چه مخے ته ئے د نیزے ستره وه) بیائے د مازیگر دوه رکعته اوکړه. دواړه مونځونه ئے جمع کړل بیا به ئے برابر دوه رکعتونه په قصر سره کول. تر دے پورے چه واپس مدینے ته اورسیدل[۲].

---

[۱]: د اوښے په پرده کښې (یعنی غاته) نووی رحمه الله ویلی دی په دے حدیث کښې دلیل دے خاروی ته نږدے د مونځ په جائز کیدو باندے. او اوښ ته نږدے. او د اوښانو په خانے کښې مونځ کول مکروه دی. ددے یرے نه چه هغه وران ولاړ وی. او په مانځهٔ کښې خلل واقع شی.

[۲]: چا ته اوبهٔ میلاو شوے او چا ته میلاو نهٔ شوے نو هغه د بل نه واخستے لپے شان ئے ترمکیا کړے. یعنی د حضرت صلی الله علیه وسلم د اودس نه چه کوم اوبهٔ باقی پاتے شوے. هغے لره خلقو د تبرک دپاره اخستل شروع کړل چا ته خو اوبهٔ میلاو شوے. او چا ته

عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ أَنَّ أَبَاهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ وَرَأَيْتُ بِلَالًا أَخْرَجَ وَضُوءًا فَرَأَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُونَ ذٰلِكَ الْوَضُوءَ فَمَنْ أَصَابَ مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ ثُمَّ رَأَيْتُ بِلَالًا أَخْرَجَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا وَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا فَصَلَّى إِلَى الْعَنَزَةِ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ يَمُرُّونَ بَيْنَ يَدَيِ الْعَنَزَةِ

د عون ابن ابی جحیفهؓ نه روایت دے چه د هغهٔ پلار رسول الله ﷺ لره د څرمنے په سره شامیانړ کښې اولیدو. او ما بلال لره اولیدو چه هغهٔ د رسول الله ﷺ د اودس نه باقی پاتے اوبهٔ راوویستے. نو خلق په هغهٔ د اوبو د اخستو دپاره ورغوته شو. بیا چه چا ته اوبهٔ میلاو شوے. نو هغوی په بدن پورے اومږلے او چا ته چه میلاؤ نهٔ شوے هغهٔ د خپل ملګری په لاس سره لاس لوند کړلو بیا ما بلال لره اولیدو هغوی نیزه رااوویسته. او هغے لره ئے په زمکه کښې نهاله کړه. او رسول الله ﷺ سرے جامے اغوستے وے. او هغے لره ئے (د پندو پورے) اوچتے کړے رااووتو. او د نیزے په طرف باندے اودریدو او د خلقو سره ئے دوه رکعته اوکړل. او ما خلقو لره او ځناورو لره لیدل چه د نیزے نه مخے ته به تیریدل.

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالْهَاجِرَةِ إِلَى الْبَطْحَاءِ فَتَوَضَّأَ فَصَلَّى الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ وَبَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةٌ قَالَ شُعْبَةُ وَزَادَ فِيهِ عَوْنٌ عَنْ أَبِيهِ أَبِي جُحَيْفَةَ وَكَانَ

د ابو جُحیفهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ماسپخین په وخت د بطحاء په طرف اووتلو. او اودس ئے اوکړو. بیائے د ماسپخین دوه رکعته مونځ ئے ادا کړو. او د هغهٔ په مخکښې نیزه لګیدلے وه. د هغے نیزے نه شا طرفته به

چه میلاؤ نه شوے نو بل په هغهٔ باندے دوه څلور څاڅکی اوشیندل او په دویم روایت کښې دا امر په تصریح سره موجود دے. چه ما خلقو لره اولیدل چه هغوی د اودس نه پاتے شوو اوبو لره اخستلے. نووی رحمه الله ویلی دی. ددے حدیث نه دا خبره ثابتیږی چه د صالحینو په اثارو سره برکت حاصلول صحیح دی. او د هغوی نه د بچ شوے غلے یا اوبو استعمال په طور د تبرک جائز دے.

نووی رحمه الله ویلی دی ددے حدیث نه دا هم وتلی دی چه مؤذن لره د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة حَیَّ عَلَی الْفَلَاح ویلو ه وخت ښی او ګس طرفته مخ ګرځول پکار دی. لیکن قدم او سینه خپله به د قبلے د طرفنه نه ګرځوی. صرف څټ او سره به اړوی. او په دے باب کښې درے مذهبونه دی. یو دا چه په حَیَّ عَلَی الصلوة کښې به دوه خله ښیطرفته مخ ګرځوی. او په حَیَّ عَلَی الفلاح کښې به دوه خله ګس طرفته مخ ګرځوی او دا صحیح دے. دویم دا چه رومبے به یو خل حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة ښی طرفته مخ اوګرځوی او اوبه وائی. او یو خل به ګس طرفته مخ اوګرځوی او دغه شان به حَیَّ عَلَی الفلاح اووائی. دریم دا چه رومبے به ښی طرفته مخ اوګرځوی او حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة به اووائی بیا به قبلے طرفته مخ کړی. بیا به ښی طرفته مخ اوګرځوی او حَیَّ عَلَی الصلوة به اووائی. بیا به ګس طرفته مخ اوګرځوی او حی عَلَی الفلاح به اووائی. بیا به قبلے طرفته مخ کړی. او بیا به ګس طرفته مخ اوګرځوی او حَیَّ علی الفلاح به اووائی.

يَمُرُّ مِنْ وَرَائِهَا الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ

زنانه او خره تیریدل[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى أَتَانٍ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الِاحْتِلَامَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ بِمِنًى فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيِ الصَّفِّ فَنَزَلْتُ فَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ وَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ عَلَيَّ أَحَدٌ

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه زهٔ په خره سور شوم راغلم په دغه ورځو کښې زهٔ په ځوانئ کښې راغلے وم او رسول الله ﷺ په منیٰ کښې مونځ ورکولو زهٔ د صف په مخکښې راغلم کوز شوم او خره م پریخوده هغه څریده اوزهٔ په صف کښې شریک شوم. بیا چا په ما باندے اعتراض اونهٔ کړلو[2].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ أَقْبَلَ يَسِيرُ عَلَى حِمَارٍ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ قَائِمٌ يُصَلِّي بِمِنًى فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ يُصَلِّي بِالنَّاسِ قَالَ فَسَارَ الْحِمَارُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ ثُمَّ نَزَلَ عَنْهُ فَصَفَّ مَعَ النَّاسِ

د عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے. چه هغه په خر باندے سور راغے او رسول الله ﷺ په منیٰ کښې په حجة الوداع کښې ولاړ وو مونځ ئے ورکولو خلقو ته نو خر د صفونو په مخکښې اووتلو. بیا تر نه هغه کوز شو او په صف کښې شریک شو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ وَالنَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّي بِعَرَفَةَ

دغه شان روایت دے د زهری نه کوم چه پورته ذکر شو خو په دے کښې دا دی چه هغه په عرفات کښې مونځ کولو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ مِنًى وَلَا عَرَفَةَ وَقَالَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ أَوْ يَوْمَ الْفَتْحِ

په یو روایت کښې د زهری نه نهٔ د منیٰ ذکر دے نهٔ د عرفات بلکه حجة الوداع یا د مکے د فتح ورځ ئے ویلے دهٔ. (لیکن صحیح حجة الوداع دے)

بَابُ مَنْعِ الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي

باب : د مونځ کونکی مخکښې تیریدل منع دی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَلَا

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی هر کله چه ستاسو نه څوک مونځ کوی نو خپلے مخے ته څوک تیریدو والامهٔ

[1] د دے حدیث نه په سفر کښې قصر او جمع دواړه ثابت شو. او دا تر نه هم معلوم شو. چه کهٔ په سفر کښې په اول وخت د کوزیدو اتفاق راشی لکه د ماسپخین په وخت نو مازیگر به هم دغه وخت ادا کړی او دا جمع تقدیم ده. او کهٔ چرے د اولنی مانځهٔ په وخت د تلو اتفاق وی. لکه د ماسپخین په وخت. نو په ماسپخین کښې به تاخیر اوکړی. او د مازیگر په وخت به دواړو ادا کړی. او دا جمع تاخیر ده

[2] چه تهٔ صف ته څنګه راغلے. او خره دِ ولے هلته پریخوده؟ ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښې سُتره وه. او د امام سُتره د مقتدیانو دپاره هم پوره ده. د ابن عباس رضی الله عنه په عُمر کښې اختلاف دے. چه د رسول الله صلّی الله علیه وسلم د وفات په وخت څومره وو؟ بعضو لس کاله ویلے دے بعضو د یارلس کاله ویلی دی بعضو پنځلس کاله ویلی دی. او دغه صحیح دے.

يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلْيَدْرَأْهُ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ

پرېږدي، د کومې پورې چه کېدے شي هغهٔ له تېل وهي. که چرے هغه نهٔ مني نو جنګ د هغهٔ سره کوي. ولې چه هغه شيطان دے[1]

عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا مَعَ أَبِي سَعِيدٍ يُصَلِّي يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ شَابٌّ مِنْ بَنِي أَبِي مُعَيْطٍ أَرَادَ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَدَفَعَ فِي نَحْرِهِ فَنَظَرَ فَلَمْ يَجِدْ مَسَاغًا إِلَّا بَيْنَ يَدَيْ أَبِي سَعِيدٍ فَعَادَ فَدَفَعَ فِي نَحْرِهِ أَشَدَّ مِنَ الدَّفْعَةِ الْأُولَى فَمَثَلَ قَائِمًا فَنَالَ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ ثُمَّ زَاحَمَ النَّاسَ فَخَرَجَ فَدَخَلَ عَلَى مَرْوَانَ فَشَكَا إِلَيْهِ مَا لَقِيَ قَالَ وَدَخَلَ أَبُو سَعِيدٍ عَلَى مَرْوَانَ فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ مَا لَكَ وَلِابْنِ أَخِيكَ جَاءَ يَشْكُوكَ فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَدْفَعْ فِي نَحْرِهِ فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ

د ابوصالح سمان نه روايت دے. چه زهٔ د ابوسعيدؓ سره ملګرے وم. هغه مونځ کولو د جمعې په ورځ د څهٔ څيز په سُتره کښې د خلقو نه جدا. په دے کښې د ابومعيط د قوم يو ځوان راغے. او هغه د هغهٔ په مخکښې تيرېدل غوښتل ابوسعيد هغهٔ په سينه کښې اووهو هغهٔ اوکتل چه بل طرفته ئې لار اونهٔ مونده او بيائې په دويم وار د هغهٔ په مخکښې تيرېدل غوښتل. ابوسعيدؓ بيا په زور سره يو ګذار اووهو، هغه نيغ اودرېدو او د ابوسعيدؓ سره ئې جنګ شروع کړو. بيا خلق راغے او هغه ئې منع کړو. بيا هغه اووتو او مروان (چه کوم د مدينې حاکم وو) ته ئې شکايت اوکړو. ابوسعيدؓ د مروان خواله لاړو. مروان اووے تا څهٔ کړي دي چه ستا د رور ځوے شکايت کوي. ابوسعيدؓ اووے. ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي چه فرمايلي وو. کله چه يو ۵
بنده ستاسو نه د څهٔ څيز په سُتره سره مونځ کوي او يو سړے د هغهٔ مخے ته تيرېدل اوغواړي نو هغه دِ په سينه باندے اووهلے شي. که چرے هغه اونهٔ مني. نو بيا د هغهٔ سره جنګ اوکړه ځکه چه هغه شيطان دے[2].

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

د عبدالله بن عمرؓ نه روايت دے. چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي. کله

---

[1] د تېل وهلو حکم په طور د استحباب دے. نهٔ په طور د وجوب. او يو عالم دے ته واجب هم دي ويلي. او د جنګ نه دا غرض نهٔ دے چه وسله اوچلوي، يائې داسے اووهي چه مړ شي. بيا که چرے په واجبي طور سره په تېل وهلو کښې مړ شي. نو په اتفاق د علماؤ په هغهٔ باندے قصاص نشته دے. ليکن ديت يعنې د مړي قيمت واجبيږي يا نه؟ په دے کښې دوه قولونه دي. دا ټول په داسے صورت کښې دي چه مونځ کونکي خپلے مخے ته څهٔ سُتره اودرولې وي. يا په داسے ګټ کښې مونځ کوي. چه هلته د مونځ کونکي په مخکښې د تيرېدو څهٔ ضرورت نهٔ وي انتهٰی مُختصرًا

[2] يعنې د شيطان په وينا باندې عمل کوي. او په منع کولو باندے د بدے خبرے نه نهٔ منع کيږي. يا د شيطان په شان کار کوي چه ښهٔ خبره نهٔ مني. يا پخپله شيطان دے. يعنې شرير او سرکش دے. دا ټول د شيطان صفتونه دي.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَلَا يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّ مَعَهُ الْقَرِينَ

چه څوک ستاسو نه مونځ ادا کوی. نو څوک په خپل مخ کښې تیریدو ته مهٔ پریږدئ. کهٔ چرے هغه نهٔ منی نو د هغهٔ سره جنګ اوکړئ ځکه چه د هغهٔ سره شیطان دے. (یعنی چا ته چه خدائے په قرآن کښې د نُقَیِّضْ لَهٗ په آیت کښې دوست فرمایلے دے)

عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ أَنَّ زَيْدَ بْنَ خَالِدٍ الْجُهَنِيَّ أَرْسَلَهُ إِلَى أَبِي جُهَيْمٍ يَسْأَلُهُ مَاذَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي قَالَ أَبُو جُهَيْمٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ قَالَ أَبُو النَّضْرِ لَا أَدْرِي قَالَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً

د بسر بن سعید نه روایت دے. چه هغه لره زید بن خالد جهنی اولیږلو اوجهیم (عبد الله بن حارث بن صمه انصاری) ته دد ے تپوس کولو په باره کښې چه رسول الله ﷺ د هغه بنده په باره کښې څهٔ فرمایلی دی چه هغه د مونځ کونکی په مخکښې تیر شی. ابوجهیم اووے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه کهٔ مونځ کونکی ته په مخکښې تیریدلو والا انسان د خپل وبال نه خبر شی. چه کوم وبال په دهٔ باندے دے. البته کهٔ د څلوریښتو پورې په دغه ځائے اودریږی نو دا به غوره ګڼړی د مونځ کونکی په وړاند د تیریدو نه ابو النضر ویلی دی چه زهٔ پوهه نهٔ وم چه څهٔ ئے اوویل. څلویښت ورځے یا میاشتے یا کلونه

بَابُ دُنُوِّ الْمُصَلِّي مِنَ السُّتْرَةِ

باب: د مانځهٔ ځائے کښې ستره نزدے لګول

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ كَانَ بَيْنَ مُصَلَّى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْجِدَارِ مَمَرُّ الشَّاةِ

د سهل بن سعد ساعدیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه په کوم ځائے د مانځهٔ دپاره اودریدلو. په هغے کښې او د قبلے د دیوال په مینځ کښې دومره ځائے وو. چه یوه بزه پکښې وتلے شوه [1]

عَنْ سَلَمَةَ وَهُوَ ابْنُ الْأَكْوَعِ أَنَّهُ كَانَ يَتَحَرَّى مَوْضِعَ مَكَانِ الْمُصْحَفِ يُسَبِّحُ فِيهِ وَذَكَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَحَرَّى ذَلِكَ الْمَكَانَ وَكَانَ بَيْنَ الْمِنْبَرِ

د سلمه بن اکوعؓ نه روایت دے. چه هغه د مصحف د ځائے لټون ئے کوو (یعنی کوم ځائے چه حضرت عثمانؓ به مصحف ایخودلو هغوی بیان کړے دے دے. چه رسول الله ﷺ هغه ځائے لره تلاش کولو. او هغه ځائے په مینځ د قبلے او منبر کښې د یوے بزے د

[1] نو هغه به دیوال ته دیر نژد اودریدلو. دغه سنت دی چه مونځ کونکے حتی المقدور سترے ته نژدے اودریږی.

وَالْقِبْلَةِ قَدْرُ مَمَرِّ الشَّاةِ

عَنْ يَزِيدَ أَخْبَرَنَا قَالَ كَانَ سَلَمَةُ يَتَحَرَّى الصَّلَاةَ عِنْدَ الْأُسْطُوَانَةِ الَّتِي عِنْدَ الْمُصْحَفِ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا مُسْلِمٍ أَرَاكَ تَتَحَرَّى الصَّلَاةَ عِنْدَ هَذِهِ الْأُسْطُوَانَةِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَحَرَّى الصَّلَاةَ عِنْدَهَا

تیریدو د ځائے مطابق وو[1].

د یزید نه روایت دے. سلمهؓ به د هغے غوره کړے ستنے سره مونځ ادا کولو چه هغه مصحف ته نژدے ده. ما هغهٔ ته اووے. اے ابومسلم! زهٔ وینم چه په څهٔ شان له کیدے شی ته د دغے ستنے په خواله کښں مونځ ادا کوے. هغوی (په جواب کښں) اووے. چه ما رسول اللهﷺ لره لیدلے وو. چه هغه په غوره سره دد ے ستنے په خواه کښں مونځ کولو.

بَابُ قَدْرِ مَا يَسْتُرُ الْمُصَلِّيَ

باب : د سترے اندازه

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَإِنَّهُ يَسْتُرُهُ إِذَا كَانَ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلُ آخِرَةِ الرَّحْلِ فَإِذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلُ آخِرَةِ الرَّحْلِ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ وَالْكَلْبُ الْأَسْوَدُ قُلْتُ يَا أَبَا ذَرٍّ مَا بَالُ الْكَلْبِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْكَلْبِ الْأَحْمَرِ مِنَ الْكَلْبِ الْأَصْفَرِ قَالَ يَا ابْنَ أَخِي سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا سَأَلْتَنِي فَقَالَ الْكَلْبُ الْأَسْوَدُ شَيْطَانٌ

د ابوذرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. چه هر کله ستاسو نه څوک د مانځهٔ د کولو دپاره اودریږی. او د هغهٔ مخے ته د کجاوے دروستی لرګی هومره برابر څهٔ شے وی. نو هغه د پردے دپاره کافی دے. کهٔ چرے دومره لوئے (یا د هغے نه دنګ) څهٔ شے د هغهٔ مخے ته نهٔ وی. او خر یا ښځه یا تور سپے د هغهٔ مخے ته لاړ شی. نو د هغهٔ مونځ ماتیږی. ما اووے اے ابوذرؓ! دا د تور سپی څهٔ خصوصیت دے. کهٔ چرے سُور سپے وی یا زیړ وی. هغوی (په جواب کښں) اووے. اے څما وراره! ما د رسول اللهﷺ نه دغه شان تپوس اوکړو. نو هغهٔ اوفرمایل. تور سپے شیطان وی[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. چه د ښځے

---

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه په جماعت کښں د مونځ ادا کولو دپاره په څهٔ خائے مقررولو کښں قباحت نشته دے. په شرط دد ے چه هغه خائے د نورو خایونو نه فضیلت لری. ګنی مکروه دی. او د تدریس یا افتاء دپاره په خائے مقرر کولو کښں قباحت نشته.

[2] تور سپے شیطان وی. یعنی شریر وی. نووی رحمه الله ویلی دی په دے مسئله کښں د علماؤ اختلاف دے بعضے وائی دد ے څیزونو مخے ته په تیریدو سره مونځ ماتیږی. په ښځے او حر کښں شبَه ده. د مالک ،ابوحنیفه، شافعی رحمهم الله او د جمهور علماؤ په نز د څهٔ څیز په مخکښں تلو سره مونځ نهٔ ماتیږی. هغوی دد ے حدیث تاویل کړے دے. چه د قطع صلوة نه مراد د هغهٔ نقص دے نهٔ ابطال او بعضو دا دعوه کړے ده چه د قطع حدیث منسوخ دے. بله دا چه ه حدیث لَا يَقْطَعُ الصَّلٰوةَ مُرُورُ شَيْئٍ باندے ـ دا دعوه ثابتیدے نهٔ شی ـ ولے چه د نسخ دپاره د تاریخ کیدل ضروری دی ـ علاوه دد ے نه حدیث لَا يَقْطَعُ الصَّلٰوةَ مُرُورُ شَيْئٍ ضعیف دے. انتهیٰ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ وَالْكَلْبُ وَيَقِي ذٰلِكَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ

او خر او سپی په مخکښ د تیریدو سره مونځ ماتیږی. او د دے تولو نه بچاؤ په دے شکل کیدے شی چه د مونځ کونکی په مخکښ څه څیز د کجاوے د روستی لرګی برابر وی

بَابُ الْإِعْتِرَاضِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ

باب: د مونځ کونکی په مخکښ څملاستل

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ وَأَنَا مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د شپے مونځ کولو. او زهٔ به د قبلے په طرف د هغهٔ په مخکښ حائله پرته ومه لکه چه جنازه مخکښ حائله پرته وی[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي صَلَاتَهُ مِنَ اللَّيْلِ كُلَّهَا وَأَنَا مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يُوتِرَ أَيْقَظَنِي فَأَوْتَرْتُ

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به خپل د تهجد مونځ پوره ادا کولو. او زهٔ به د هغهٔ مخے ته د قبلے په طرف حائله پرته وم. هر کله چه به هغهٔ وتر ادا کول نو زهٔ به ئے ویخه کړم نو ما به هم وتر اوکړل[2].

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ مَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ قَالَ فَقُلْنَا الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ فَقَالَتْ إِنَّ الْمَرْأَةَ لَدَابَّةُ سَوْءٍ لَقَدْ رَأَيْتُنِي بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعْتَرِضَةً كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ وَهُوَ يُصَلِّي

د عروه بن زبیر رضی الله عنه نه روایت دے. حضرت عائشے رضی الله عنها اوویل. چه مونځ د کومو څیزونو په خکښ تلو سره ماتیږی. مونږه اووے. د ښځے او خر په مخکښ تلو سره. هغے اووے چه ښځه هم یو بد ځناور دے. زهٔ به په خپله د رسول الله ﷺ په مخکښ د جنازے په شان حائله پرته وم. او هغهٔ به مونځ کولو.

عَنْ عَائِشَةَ وَذُكِرَ عِنْدَهَا مَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه سپے او خر او ښځه

---

[1] د دے حدیث نه هغه علماؤ استدلال کړے دے. چه هغه وائی چه د ښځے په مخکښ تلو سره مونځ نه ماتیږی. لیکن مونځ د ښځے په مخکښ کولو ته ئے مکروه ویلی دی د دے دپاره چه زړهٔ خفه نه شی او د د حضرت ﷺ خبره جدا وه. دویمه دا چه هغه وخت په کورونو کښ رڼرا نه وه تیارهٔ وه.

[2] امام نووی رحمه الله ویلی دی د دے حدیث نه دا خبره وتلے ده چه د وتر مونځ د اخر وخت د شپے پورے روستو کول مستحب دی او کوم بنده لره چه پخپله د سترګو غړیدو یا د بل په ویخولو باندے بهروسه وی. نو د هغهٔ دپاره مستحب دی چه وتر د شپے په آخره حصه کښ ادا کړی. اګر کهٔ تهجد نه کوی. ولے چه حضرت عائشے رضی الله عنها به بعض وخت تهجد نه کولو لکه څنګه چه د دے حدیث نه معلومیږی خو د وتر مونځ به ئے د حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره لوستلو او د کوم بنده چه د ویخیدو بهروسه نهٔ وی هغه د ماسخوتن د مانځهٔ نه پس وتر ادا کوی.

الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ قَدْ شَبَّهْتُمُونَا بِالْحَمِيرِ وَالْكِلَابِ وَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَإِنِّي عَلَى السَّرِيرِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ مُضْطَجِعَةً فَتَبْدُو لِي الْحَاجَةُ فَأَكْرَهُ أَنْ أَجْلِسَ فَأُوذِيَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْسَلُّ مِنْ عِنْدِ رِجْلَيْهِ

چه مونځ کونکي ته په مخکښې تیر شي نو مونځ ماتیږي. هغوی اووے چه تا مونږ لره د خرو او د سپو برابر کړلو. په خدائے م دِ قسم وی. چه ما پخپله لیدلے دے چه رسول الله ﷺ مونځ کولو او زۀ د هغۀ په مخ کښې په تخت باندے د قبلے په طرف باندے ملاسته وم. ماته چه به حاجت کیدو نو د هغۀ په مخکښې کیناستل. او هغۀ لره تکلیف ورکول به ما ته بد ښکاریدل. نو زۀ به د تخت د خپو سره په خواه کښې رو غوند اوخوئیدم (یعنی کوزه شوم).

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ عَدَلْتُمُونَا بِالْكِلَابِ وَالْحُمُرِ لَقَدْ رَأَيْتُنِي مُضْطَجِعَةً عَلَى السَّرِيرِ فَيَجِيءُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَتَوَسَّطُ السَّرِيرَ فَيُصَلِّي فَأَكْرَهُ أَنْ أَسْنَحَهُ فَأَنْسَلُّ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيِ السَّرِيرِ حَتَّى أَنْسَلَّ مِنْ لِحَافِي

د اُمّ المؤمنین حضرت عائشے ؓ ویلی دی. تاسو مونږ د سپو او د خرو برابر کړو. حالانکه ما پخپله خپل ځان په تخت باندے ملاست لیدلے دے. بیا رسول الله ﷺ به راتلو اود تخت په مینځ کښې به ئے مونځ کولو. ماته به د هغۀ په مخکښې غوړیدل بد معلومیدل نو زۀ به د تخت نه د خپو په طرف اوخوئیدم او د لحاف نه به بهر رااووتم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجْلَايَ فِي قِبْلَتِهِ فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِي فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ وَإِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا قَالَتْ وَالْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ

د اُمّ المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے. چه زۀ به د رسول الله ﷺ په مخکښې اودۀ وم. خما خپے به د هغۀ مخے ته د قبلے په طرف وے. نو کله چه به هغۀ سجده کوله نو خما خپے به ئے دباؤ کړےما به خپے راغونډے کړے. بیا چه به هغه کله اودریدو نو ما به خپے خورے کړے. حضرت عائشه ؓ فرمائی چه په دغه ورځو کښې زمونږ په کور کښې چراغ نۀ وو[1].

عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَأَنَا حِذَاءَهُ وَأَنَا حَائِضٌ وَرُبَّمَا

د اُمُّ المؤمنین حضرت میمونے ؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ به مونځ کولو او زۀ به د حیض په حالت کښې د هغۀ مخے ته وم. او کله به داسے هم اوشوه چه د هغۀ ﷺ کپړه به خما د بدن سره لګیده. کله

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه د ښځے سره لګیدو باندے اودس نۀ ماتیږی او د جمهور علماؤ په نزد ماتیږی. هغوی دا تاویل کړی چه دا لګیدل د کپړے وغیره د پاسه وی په دے سره اودس نۀ ماتیږی. (دا هم معلومه شوه چه ښځه د مونځ کونکی مخے ته تیریدل یا مخامخ کیدلو سره په مونځ څۀ اثر نۀ غورځیږی.

أصابني ثوبه إذا سجد

چه به هغهٔ ﷺ سجده کوله

عن عائشة قالت كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي من الليل وأنا إلى جنبه وأنا حائض وعلي مرط وعليه بعضه إلى جنبه

د أمّ المؤمنین حضرت عائشې نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د شپې مونځ کولو. او زهٔ به د حیض په حالت کښې د هغهٔ د ډډې په طرف وم او څما به یو څادر په سر وو د هغې نه به یو ټکړه په هغهٔ باندې هم وه[1]

باب الصلاة في ثوب واحد وصفة لبسه

باب: په یوه جامه کښې د مونځ کولو بیان او د هغې د اغوستو بیان

عن أبي هريرة أن سائلا سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الصلاة في الثوب الواحد فقال أولكلكم ثوبان

د ابوهریرهٔ نه روایت دے. چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. ولې په یوه کپړه (لکه تهبند) اغوستو سره مونځ صحیح دے. هغهٔ اوفرمایل. ولې ستاسو نه د هر سړی سره دوه کپړے دی[2].

عن أبي هريرة قال نادى رجل النبي صلى الله عليه وسلم فقال أيصلي أحدنا في ثوب واحد فقال أوكلكم يجد ثوبين

د ابوهریرهٔ نه روایت دے. چه یو سړی رسول الله ﷺ ته آواز اوکړو ولې زمونږ نه څوک په یوه کپړه کښې مونځ کولے شي؟ هغهٔ اوفرمایل. ولې ستاسو د هر یو سره دوه کپړے دی.

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا يصلي أحدكم في الثوب الواحد ليس على عاتقيه منه شيء

د ابوهریرهٔ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه ستاسو نه د څوک په یوه کپړه کښې په دے شان باندے مونځ نهٔ کوی چه د هغهٔ په اوګه باندے څهٔ نوی[3].

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی. چه کهٔ چرے ښځه د مونځ کونکی ډډے ته ولاړه وی. نو مونځ نهٔ باطلیږی. دغه رنګے زمونږ او د اکثر علماؤ مذهب دادے او د امام ابوحنیفه په نزد مونځ باطلیږی او دا ثابت شوه چه د ښځے جامے پاکے دی. مګر هغه ځائے کوم ځائے چه وینه لګیدلی وی. یا نوره څهٔ پلیتی وی. البته هغه نجس دے. او دا هم ثابته شوه. چه د حائضے په مخکښې مونځ کیږی. او یوه کپړه چه څهٔ په حائضه باندے وی او څهٔ په مونځ کونکی باندے نو هم څهٔ قباحت نشته.

[2] یعنی داسے ډیر خلق دی. چه د هغوی سره د یوے کپړے نه سوا بله کپړه نهٔ وی. او مونځ خو په ټولو باندے فرض دے. نو په یوه کپړه کښې به ضرور مونځ صحیح وی. په دے مسئله کښې د چا اختلاف نشته. البته د ابن مسعود نه ددے خلاف منقول دے. خود هغے سند نهٔ معلومیږی او په دے خبره باندے اجماع ده. چه مونځ په دوو کپړو کښې غوره دے. لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابو رضی الله عنهم په یوه کپړه کښې هم مونځ کړے دے.

[3] ولے چه کهٔ چرے په اوګه باندے کپړه نهٔ وی. او احتمال دے د ستر د کھولاویدو. کهٔ په لاس سره نهٔ منع کوی نو د لاسو ترلو په سنت وکښې خلل راځی او دا ممانعت د ابوحنیفه او شافعی او مالک رحمهم الله په نزد تنزیهی دے. کهٔ چرے څوک په یوه کپړه کښې په دے

عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُشْتَمِلًا بِهِ فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ

د عمر بن ابوسلمهؓ نه روايت دے چه ما رسول الله ﷺ لره اوليدو چه هغهٔ د أمّ سلمهؓ په كور كښ يوه كپړه اغوستلې وه او مونځ ئے كولو. او د كپړے دواړه سرونه د هغهٔ په اوګو باندے وو.

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ مُتَوَشِّحًا وَلَمْ يَقُلْ مُشْتَمِلًا

دغه شان دے څنګه چه پورته ذكر شو. په دے كښ دادی. چه هغهٔ د هغه كپړے سره توشح اوكړهٔ[1].

عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ فِي ثَوْبٍ قَدْ خَالَفَ بَيْنَ طَرَفَيْهِ

د عمربن ابی سلمهؓ نه روايت دے چه ما د أمّ المؤمنين ام سلمهؓ په كور كښ رسول الله ﷺ لره په يوه كپړه كښ په مونځ كولو باندے اوليدو. د هغے په دواړو غاړو كښ هغهٔ خلاف كړے وو[2].

عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُلْتَحِفًا مُخَالِفًا بَيْنَ طَرَفَيْهِ زَادَ عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ

د عمر بن ابی سلمهؓ نه روايت دے. چه ما رسول الله ﷺ لره په يوه كپړه كښ په مونځ كولو اوليدو هغهٔ هغے لره اغوستے وه او د هغه په دواړو غاړو كښ مخالفت وو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ

د جابرؓ نه روايت دے. چه ما رسول الله ﷺ لره په يوه توشح كړے كپړه كښ په مونځ كولو ليدلے دے. (د توشح معنٰی په حاشيه كښ بيان ده)

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ حَدَّثَهُ أَنَّهُ رَأَى جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ وَعِنْدَهُ ثِيَابُهُ وَقَالَ جَابِرٌ إِنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ ذٰلِكَ

د ابوالزبير مكی نه روايت دے. چه هغوی جابرؓ لره په يوه كپړه كښ توشح كړے په مانځهٔ كولو اوليدو. حالانكه د هغوی سره كپړے موجود وے. (نو هغویؓ داسے ددے دپاره اوكړل چه جواز معلوم وی) او جابرؓ اووے. چه ما رسول الله ﷺ لره په داسے كولو ليدلے دے.

شان سره مونځ كوی چه په اوګو باندے ئے څهٔ نوی نو مونځ به مكروه وی خو باطل به نهٔ وی. او د امام احمد رحمه الله او بعضے سلفو په نزد كهٔ چرے په اوګو باندے د كپړے ايخودلو ګنجائش وو او كينهٔ نبوددهٔ نو مونځ به صحيح نهٔ وی. او په يو روايت كښ د احمد رحمه الله نه داسے دی. چه مونځ صحيح كيږی ليكن ګنهګار به وی.

[1] نوی ويلی دی توشح دادے. چه د كپړے كومه غاړه چه په ښی مټ باندے وی. هغے لره د ګس لاس لاندے بوځی او كوم چه په ګس مټ باندے وی هغے لره د ښی لاس لاندے بوځی. او بيا دواړو غاړو لره يو ځائے په سينه باندے اوتړی.

[2] يعنی ښی غاړے لره ګس طرفته او ګسے لره ئے ښی طرفته بوتلے وه. لكه چه پورته بيان شو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي عَلَى حَصِيرٍ يَسْجُدُ عَلَيْهِ قَالَ وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ

د ابوسعيد خدری نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ خواله لاړو لو اونے ليدل چه هغهٔ په يو پُوزکی مونځ کولو په هغے باندے نے سجده کوله او اونے ليدو هغهٔ لره په يوه کپړه کښ په مونځ کولو چه توشح نے کړے وو په هغے سره.

كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلٰوةِ

د د جماعتونو او د مانځهٔ د ځایونو بیان

عَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ مَسْجِدٍ وُضِعَ فِي الْأَرْضِ أَوَّلُ قَالَ الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ الْمَسْجِدُ الْأَقْصَى قُلْتُ كَمْ بَيْنَهُمَا قَالَ أَرْبَعُونَ سَنَةً وَأَيْنَمَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّ فَهُوَ مَسْجِدٌ وَفِي حَدِيثِ أَبِي كَامِلٍ ثُمَّ حَيْثُمَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّهِ فَإِنَّهُ مَسْجِدٌ

د ابوذرؓ نه روایت دے ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! په زمکه کښې د ټولو نه مخکښې کوم مسجد جوړ شوے دے؟ حضرتﷺ اوفرمایل مسجد حرام (یعني خانه کعبه) ما تپوس اوکړو بیا کوم یو؟ حضرتﷺ اوفرمایل. مسجد اقصیٰ (یعني بیت المقدس) ما تپوس اوکړو دد دواړو جماعتونو د جوړیدو په ما بین کښې څومره زمانه دد حضرتﷺ اوفرمایل د څلویښتو کالو. او تاسو ته خو چه کوم ـ ـ مانځهٔ وخت راشي هلته کوئ هغه مسجد دے[1].

عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ يَزِيدَ التَّيْمِيِّ قَالَ كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَى أَبِي الْقُرْآنَ فِي السُّدَّةِ فَإِذَا قَرَأْتُ السَّجْدَةَ سَجَدَ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَتِ أَتَسْجُدُ فِي الطَّرِيقِ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ يَقُولُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَوَّلِ مَسْجِدٍ وُضِعَ فِي الْأَرْضِ قَالَ الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ الْمَسْجِدُ الْأَقْصَى قُلْتُ كَمْ بَيْنَهُمَا قَالَ أَرْبَعُونَ عَامًا ثُمَّ الْأَرْضُ لَكَ مَسْجِدٌ فَحَيْثُمَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّ

د ابراهیم بن یزید تیمي نه روایت دے ـ ـ به خپل پلار ته قران اورولو په سدّه کښې (سده هغه مقام چه هغه د جماعت نه جارج وی د دروازے نه بهر چه هلته خلق کیني اخستل او خرڅول او خبرے اترے کوي. او د نسائي په روایت کښې سکّه دے یعنی په لاره کښې) هر کله چه په ما د سجدے ایت لوستونو هغه به سجده کوله. ما هغهٔ ته اووے اے پلاره! تهٔ په لاره کښې سجده کوے. هغوی اووے ما د ابوذرؓ نه اوریدلی دی. هغه ویلی وو چه ما د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو. چه په زمکه کښې د ټولو نه مخکښې کوم مسجد جوړ شوے دے. حضرتﷺ اوفرمایل چه مسجد حرام. ما تپوس اوکړو. بیا کوم یو جماعت؟ حضرتﷺ اوفرمایل مسجد اقصیٰ. ما تپوس اوکړو په دے دواړو کښې څو کاله فرق دے؟ حضرتﷺ

[1] امام نووي رحمه الله ویلی دی. دے حدیث نه دا وتلی دی چه په ټولو ځایونو کښې مونځ صحیح دے. مګر هغه ځایونه ترې نه مستثنی دی چه هلته د مانځهٔ د ادا کولو ممانعت راغلے دے. لکه قبرستان یا ډیران پلیت ځائے وغیره. یا د اوښانو د اوسیدو ځائے یا په سرک کښې یا په حمام کښې.

اوفرمایل د څلوینښتو کالو. بیا تو له زمکه ستاسو دپاره جماعت دے. کوم ځائے چه د مونځ وخت راشی هلته مونځ کوئ[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي كَانَ كُلُّ نَبِيٍّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى كُلِّ أَحْمَرَ وَأَسْوَدَ وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَلَمْ تُحَلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ طَيِّبَةً طَهُورًا وَمَسْجِدًا فَأَيُّمَا رَجُلٍ أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ صَلَّى حَيْثُ كَانَ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ بَيْنَ يَدَيْ مَسِيرَةِ شَهْرٍ وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ

د جابر بن عبد الله انصاریؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ فرمائیلی دی ماته پنځهٔ څیزونه میلاو شوی دی چه هغه زمانه مخکښ وو پیغمبر ته هم نهٔ وو ملاؤ شوی یو خو دا چه هر پیغمبر خاص خپل قوم طرفته لیږلے شوے وو. او زهٔ سُور او تور د هر سړی طرفته رالیږے شوے یم (د یخو ملکونو خلق سرهٔ دی او د ګرمو ملکونو خلق تور دی نو مطلب دادے چه څما نبوت عام دے. د یو ملک سره خاص نهٔ دے) او ماته غنیمت (یعنی د جهاد د لوټ مال) حلال کړے شوے دے. او څما نه مخکښ د چا دپاره حلال نهٔ وو. او څما دپاره تو له زمکه پاکه او پاکولو والا ده بیا چه کوم سړی ته کوم ځائے د مانځهٔ وخت راشی هغه د هلته مونځ کوی او ماته مدد راکړے شوے دے د رُعب نه چه هغه د یوے میاشتے د فاصله باندے پریوتے دے (یعنی څما رُعب د یوے میاشتے په لاره سره په مزل سره پریوځی) او ماته شفاعت راکړے شوے دے[2].

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلَاثٍ جُعِلَتْ صُفُوفُنَا كَصُفُوفِ الْمَلَائِكَةِ وَجُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا

د حذیفهؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. مونږ خلقو ته په نورو خلقو باندے د دریو خبرو په وجه سره فضیلت میلاؤ شوے دے ۱: زمونږ صفونه د فرښتو د صفونو پشان شوی دی ۲: او زمونږ دپاره تو له زمکه د مانځهٔ ځائے دے او د زمکے خاوره مونږ

---

[1] کله چه مونځ لوستل صحیح نو سجده هم صحیح وی. نووی رحمه الله ویلی دی په استاذ او شاګرد باندے چه هغه قرآن لولی او ورته بنائی د سجدے په ایت کښ سجده شته یا نه په دے کښ د علماؤ اختلاف دے. د بعضو په نزد یو خل هم ضروری نهٔ ده.

[2] څما دپاره تو له زمکه پاکولو والا شوے ده. دا دلیل دے د امام مالک او ابوحنیفه رحمهما الله چه تیمم د زمکے په جنس سره صحیح دے لکه ګټه خښته او چونه وغیره د خاورے خصوصیت نهٔ دے. او ماته شفاعت راکړے شوے دے یعنی شفاعت عام چه هغه به د محشر والو د پریشانئ په وخت وی او په هغه وخت به تول پیغمبران خلقو له جواب ورکړی. ګنی شفاعت خاص خو به نور خلق هم کوی یا مراد هغه شفاعت دے چه هغه به نهٔ رد کیږی یا هغه شفاعت دے چه هغه به درتې برابر د ایمان والادپاره هم فائده مند وی

وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا لَنَا طَهُورًا إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ وَذَكَرَ خَصْلَةً أُخْرَى

لره پاکولو والا ده هر کله چه اوبۀ نۀ میلاویږی. او یوه خبره ئے بله بیان کړه [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ طَهُورًا وَمَسْجِدًا وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. ماله د شپږو خبرو په وجه سره په نورو پیغمبرانو ؑ فضیلت راکړے شوے دے. ۱: یو خو ماته هغه کلام میلاو شوے دے چه په هغے کښې الفاظ لږ او معانے ډیرے دی (یعنی کلام الله یا پخپله د حضور ﷺ کلمات) ۲: او ماته مدد راکړے شوے دے په رُعب سره ۳: او ماته غنیموتونه حلال کړی شوی دی ۴: او ځما دپاره ټوله زمکه پاکولو والا او د مانځۀ ځائے شوے دے ۵: او زۀ د ټول مخلوقاتو طرفته (خواه کۀ هغه پیریان دی یا بنیادم. د عربو وی یا د عجمو) رالیږلے شوے یم. ۶: او په ما باندے نبوت ختم کړے شوے دے [2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ وَبَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِمَفَاتِيحِ خَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَتْ بَيْنَ يَدَيَّ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْتُمْ تَنْتَثِلُونَهَا

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی. ماته خدائے پاک هغه خبرے راکړے دی او رااوئے لیږلم چه په هغے کښې الفاظ لږ او معانے ډیرے دی. او ماته مدد میلاو دے په رعب سره. او زۀ یو ځل اودۀ شوے وم. په دے کښې د زمکے د خزانو کنجیانے راوړے شوے او ځما په لاس کښې کیښودے شوے. ابوهریره ؓ وائی چه رسول الله ﷺ خو تشریف یوړلو او تاسو د زمکے خزانے راوباسئ (یعنی د ملکونو فتح کوئ او د هغه ځائے ټول دولتونه لوټئ).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ عَلَى

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه ما ته په دشمنانو مدد میلاو شو د رعب نه او ماته هغه خبرے میلاو

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی. هغه دریمه خبره د نسائی په روایت کښې داده. چه ما ته د سوره بقرے آخری اٰیتونه د عرش دلاندے نه میلاو شوی دی. او ځما نه مخکښې یو مخکښې یو نبی ته نۀ دی میلاو شوی او نۀ به میلاو شی.

[2] اوس ځما نه پس دنیا کښې یو نبی ، نوی کتاب یا شریعت راوړلو والا راتلونکے نشته. حضرت عیسیٰ علیه السلام به بے د شک نه قیامت ته بېرته راځی. خو هغه به د ټول دین په خبرو کښې زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تابع وی.

الْعَدُوِّ وَأُوتِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ وَبَيْنَمَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِمَفَاتِيحِ خَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَتْ فِي يَدَيَّ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَنَزَلَ فِي عُلْوِ الْمَدِينَةِ فِي حَيٍّ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ فَأَقَامَ فِيهِمْ أَرْبَعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً ثُمَّ إِنَّهُ أَرْسَلَ إِلَى مَلَإِ بَنِي النَّجَّارِ فَجَاءُوا مُتَقَلِّدِينَ بِسُيُوفِهِمْ قَالَ فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ وَأَبُو بَكْرٍ رِدْفُهُ وَمَلَأُ بَنِي النَّجَّارِ حَوْلَهُ حَتَّى أَلْقَى بِفِنَاءِ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَيْثُ أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ وَيُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ ثُمَّ إِنَّهُ أَمَرَ بِالْمَسْجِدِ قَالَ فَأَرْسَلَ إِلَى مَلَإِ بَنِي النَّجَّارِ فَجَاءُوا فَقَالَ يَا بَنِي النَّجَّارِ ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُمْ هَذَا قَالُوا لَا وَاللهِ لَا نَطْلُبُ ثَمَنَهُ إِلَّا إِلَى اللهِ قَالَ أَنَسٌ فَكَانَ فِيهِ مَا أَقُولُ كَانَ فِيهِ نَخْلٌ وَقُبُورُ الْمُشْرِكِينَ وَخِرَبٌ فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّخْلِ فَقُطِعَ وَبِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ فَنُبِشَتْ وَبِالْخِرَبِ فَسُوِّيَتْ قَالَ فَصَفُّوا النَّخْلَ قِبْلَةً وَجَعَلُوا

شوے چه په هغے کښې الفاظ کم دی خو معانے ډیرے دی او زه یو خل اوده شوے وم په دے کښې د زمکے د خزانو کنجیانے راوړلے شوے. او ځما په لاس کښې کیښودے شوے.

د انس بن مالک نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو. نو د ښهر په یو اوچته حصه کښې په یوه محله کښې کوز شو. چه هغے ته د نبي عمرو بن عوف محله وائی. هلته څوارلس ورځے پاتے شو. بیا حضور ﷺ د بني نجار په خلقو پسے قاصد اولیږلو. هغوی د خپلو ویستلو تورو سره راغلل. انس وائی ګویا زه دغه وخت رسول الله ﷺ له وینم چه هغه پخپله اوښه باندے وو. او ابوبکر د هغه نه روستو وو. او د بنو نجار خلق د هغه نه ګیر چاپیره و. تر دے پورے چه هغه د ابو ایوب د کور په غولی کښې کوز شو. نو رسول الله ﷺ چه به کوم ځائے د مانځه وخت کیدو هلته به ئے مونځ کولو او د بزو د اوسیدو په ځائے کښې به ئے هم مونځ کولو (ځکه چه بزے عاجزے وی د هغوی نه دا یره نشته چه هغه به تنګول اوکړی) دد ے نه پس هغه ته د جماعت جوړولو حکم ورکړے شو. نو د بنو نجار خلقو له ئے را اوغوښتل. هغه راغلل. حضور ﷺ هغوی ته اوفرمایل. تاسو خپل باغ ځما په لاس خرڅ کړئ. هغوی اووے په خدائے قسم مونږ خو دد ے باغ قیمت نه اخلو مونږ د خدائے نه دد ے بدله غواړو (یعنی د اخرت ثواب غواړو مونږ ته روپۍ پکار نه دی) انس وائی په دغه باغ کښې چه کوم څیزونه وو هغے له زه وایم په هغے کښې د کهجورو اونې وے. او د مشرکانو قبرونه او کنډرونه وو. نو حضرت ﷺ حکم اوکړو نو د کهجورو اونې اووهلے شوے او د مشرکانو قبرونه ئے اوکنستل. او اونې غورځول او کنډرونه ئے هوار کړل. او د اونو لرګی د قبلے په طرف کیښودے شول او د

عِضَادَتَيْهِ حِجَارَةً قَالَ فَكَانُوا يَرْتَجِزُونَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهُمْ وَهُمْ يَقُولُونَ اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الْآخِرَهْ فَانْصُرِ الْأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ

دروازے دواړه طرفته ئے ګټے اولګولے. هر کله چه دغه کار شروع شو نو صحابوؓ به اشعار ویل او رسول اللهﷺ هم د هغوی سره وو. او خلقو به دا ویلو یا الله نیکی او غوره والے خو د اخرت نیکی او غوره والے دے. ته د انصارو او مهاجرینو مدد اوکړے (دا ترجمه د هغه موزون کلام ده. چه په حدیث کښې په عربئ ژبه کښې دے)[1].

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ قَبْلَ أَنْ يُبْنَى الْمَسْجِدُ

د انسؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ به د جماعت د جوړیدو نه مخکښې د بزو د اوسیدو په ځائے کښې مونځ ورکولو[2].

بَابُ تَحْوِيلِ الْقِبْلَةِ مِنَ الْقُدْسِ إِلَى الْكَعْبَةِ

باب: د بیتُ المقدس د طرف نه د خانه کعبے طرف قبله کیدل

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَيْتِ

د براء بن عازبؓ نه روایت دے. ما د رسول اللهﷺ سره د بیت المقدس په طرف شپاړس میاشتے مونځ اوکړلو. تر دے پورے چه دا ایات نازل

---

[1] : مونږ د خدائے پاک نه د هغے بدله غواړو. نووی رحمه الله ویلی دی دا حدیث هغه شان مشهور دے په صحیحین وغیره کښې. لیکن محمد بن سعد رحمه الله په طبقات کښې د واحدی رحمه الله نقل کړے دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه باغ لره په لس دیناره باندے واخستو او ابوبکر رضی الله عنه هغه ادا کړل. هغهٔ حکم اوکړو نو اونے کټ کړے شوے. او د مشرکانو قبرونه ئے اوکنستل او اوغورځولے شول. نووی رحمه الله وائی ددے حدیث نه دا معلومیږی چه دمیوه دارو اونو پریکول د څهٔ ضرورت په وخت صحیح دی. لکه د لرګی ضرورت وی. یا نورے اونے د هغے په بدله لګول منظور وی یا د هغے د غورځیدو یره وی. یا د جماعت جوړولو ضرورت وی یا د کافرانو په ملک کښې ئے هغوی لره د سزاء ورکولو دپاره پریکوی. دغه شان د زړو قبرونو کنستل او هر کله چه هغه خاوره چه په هغے کښې وینه او زوه د مړی میلاو شوی وی رااوباسی او اوغورځولے شی نو په هغه زمکه کښې مونځ صحیح دے. او هغے لره جماعت کولے شی. ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه قبرستان زمکه د مالک په ملکیت کښې راتلے شی. او هغه مالک هغے لره خرڅولے شی په شرط ددے چه دغه زمکه ئے وقف کړے نهٔ وی د مقبرے دپاره.

هر کله چه دا (یعنی د جماعت د جوړولو کار) شروع شو. نو صحابو رضی الله عنهم به رجز لوستول. یعنی اشعار به ئے ویل ددے دپاره چه په مشقت کښې آسانی راشی. علماؤ ویلی دی. چه کهٔ چرے کلام موزون وی. نو د هغے به شعر نهٔ وائی د کومے پورے چه د لوستلو والا د شعر د لوستلو نیت نهٔ وی. او په دغه سبب سره بعضے موزون کلام خو پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مروی دے خو هغه اشعار نهٔ دی ولے چه اشعار ویل د هغهٔ د شان مناسب نهٔ وو.

[2] امام نووی رحمه الله ویلی دی. امام احمد او امام مالک رحمها الله ددے حدیث نه استدلال کړے دے. چه د کوم خناور غوښه حلاله ده د هغه خناور متیازے او غوشان پاک دی.

الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا حَتَّى نَزَلَتِ الْآيَةُ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ فَنَزَلَتْ بَعْدَمَا صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَمَرَّ بِنَاسٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُمْ يُصَلُّونَ فَحَدَّثَهُمْ فَوَلَّوْا وُجُوهَهُمْ قِبَلَ الْبَيْتِ

شو كوم چه په سورة بقره كښې دى. "تاسو چه كوم ځائے يئ مخ خپل د كعبې په طرف كوئ". نو دا ايت هغه وخت نازل شو كله چه رسول الله ﷺ مونځ كولو. يو سړى د هغۀ د ملګرو نه چه دا واوريدل نو لاړو. په لاره كښې ئے د انصارو څۀ خلقو لره (د بيت المقدس په طرف د معمول مطابق) په مانځۀ كولو اوموندل هغۀ هغوى ته دا حديث بيان كړو (چه پيغمبر ﷺ ته د كعبې په طرف د مخ كولو حكم شوے دے دد ے په اوريدو سره) هغه خلق (په مانځۀ كښې) د خانه كعبې په طرف اوګرځيدل[1].

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا ثُمَّ صُرِفْنَا نَحْوَ الْكَعْبَةِ

د براء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دے. چه مونږ د رسول الله ﷺ سره شپاړس مياشتے يا د اولس مياشتو پورې د بيت المقدس په طرف مونځ اوكړلو بيا مونږ د كعبې په طرف اوګرځولے شو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَيْنَمَا النَّاسُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ بِقُبَاءٍ إِذْ جَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ وَقَدْ أُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوهَا وَكَانَتْ وُجُوهُهُمْ إِلَى الشَّامِ فَاسْتَدَارُوا إِلَى الْكَعْبَةِ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دے. چه يو ځل خلقو په قُباء كښې د سحر مونځ كولو په دے كښې يو سړے راغے او اوئے ويل چه د شپے په رسول الله ﷺ باندې قرآن نازل شو. او د كعبې په طرف د مخ كولو حكم اوشو. دد ے په اوريدو سره خلق د كعبې په طرف باندے رااوګرځيدل. او رومبے د هغوى مخ د شام په طرف وو بيا د كعبې په طرف اوګرځيدل.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د انس رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ په طرف د بيت المقدس په طرف

[1]. امام نووى رحمه الله ويلى دى دد ے حديث نه د نسخ جواز او وقوع ثابتيږى. او دا ترے نه هم وتلى دى چه د يو معتبر سړى خبر په دے باب كښې مقبول دے. او دا تر نه هم ثابتيږى چه كۀ چرے يو مونځ په څۀ وجه سره دوه طرفته اوكړے شى (لكه د قبلے په طرف كښې شک شى اول د يو طرفنه شروع اوكړى بيا په مانځۀ كښې معلومه شى چه قبله بل طرفته ده او هغه طرفته اوګرځى) بلكه د څلور ركعته مونځ هر يو ركعت په يو يو طرف اوكړے شى (په دے شان چه د مونځ كونكى رائے به هر ركعت باندے د قبلے په طرف بدل شى) نو مونځ صحيح دے. بيا علماؤ اختلاف كړے دے. چه د بيت المقدس په طرف د هغۀ مونځ كول په قرآن سره وو يا په حديث سره. كۀ چرے په حديث سره وى. نو دا هم ثابته شوه چه په قرآن سره حديث منسوخ كيدے شى. دغه شان په حديث سره قرآن منسوخ كيږى. اكثر د أصولو د علماؤ دغه قول دے. خو د امام شافعى رحمه الله نه ددغے خلاف منقول دے.

وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَنَزَلَتْ قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَمَرَّ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ وَهُمْ رُكُوعٌ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَقَدْ صَلَّوْا رَكْعَةً فَنَادَى أَلَا إِنَّ الْقِبْلَةَ قَدْ حُوِّلَتْ فَمَالُوا كَمَا هُمْ نَحْوَ الْقِبْلَةِ

مونځ کولو په دے کښې دا آیت نازل شو. قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ د آخره پورے. یعنی مونږ ستا مخ ګرځولو لره وینو د آسمان په طرف بیشکه مونږ به وار وو مخ ستا د هغه قبلے په طرف چه هغے لره ته غوره کوے. نو اوګرځوه مخ خپل لره د کعبے په طرف. بیا یو سړے د بنی سلمه نه روان وو. هغهٔ اولیدل خلق لره د سحر په مانځهٔ کښې په رکوع کښې او یو رکعت شوے وو. نو آواز ئے اوکړو واورئ! قبله بدله شوه. دد ے په اوریدو سره هغه خلق په دغه حالت کښې د قبلے په طرف اوګرځیدل

بَابُ النَّهْيِ عَنْ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ عَلَى الْقُبُورِ وَاتِّخَاذِ الصُّوَرِ فِيهَا وَالنَّهْيِ عَنِ اتِّخَاذِ الْقُبُورِ مَسَاجِدَ

باب: په قبرونو جُماعتونه جوړول او په هغے کښې د تصویرونو د ایخودو ممانعت. او قبرونو لره د جماعت جوړولو ممانعت

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ وَأُمَّ سَلَمَةَ ذَكَرَتَا كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِالْحَبَشَةِ فِيهَا تَصَاوِيرُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أُولَئِكِ إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكِ الصُّوَرَ أُولَئِكِ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے. چه اُمّ حبیبهؓ او اُمّ سلمهؓ رسول اللهﷺ ته د یوے ګرجے ذکر اوکړو چه هغے لره هغوی په حبشو کښې لیدلے وه. په هغے کښې تصویرونه لګیدلی وو. هغهٔﷺ اوفرمایل د هغه خلقو دغه حال وو. هر کله چه به د هغوی نه څوک نیک بنده مړ شو. نو هغوی به د هغهٔ په قبر باندے جماعت جوړولو. او هلته به ئے تصویرونه جوړول دغه خلق به د خدائے په مخکښې د ټولو نه زیات بدتر وی[1]

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ ذَكَرْنَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے. چه د رسول اللهﷺ بیبیانو د یوے ګرجے حال بیان کړو. چه هغے لره هغوی د حبشو په

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه. چه د قبر په خواه کښې یا د قبر دپاسه جماعت جوړول یا په قبرستان کښې مونځ کول منع دی. ولے چه وړاندے مشرکانو او یهودو نصراو به دغه شان کول چه د پیغمبرانو یا د نیکو خلقو د قبرونو نه به ئے عبادت ګاه جوړولو. کهٔ چرے څوک د قبر نه جماعت جوړ نهٔ کړی. لیکن د جماعت په شان هلته هر وخت تلل راتلل کوی. یا قبر ته ښکته کیږی یا د هغے په طرف مونځ کوی نو د هغے هم دغه حکم دے.

بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ يُقَالُ لَهَا مَارِيَةُ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ

ملک کښې لیدلې وه. چه د هغې نوم ماریه وو. بیائې هغه شان روایت کړے دے لکه چه پورته ذکر شو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي لَمْ يَقُمْ مِنْهُ لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ قَالَتْ فَلَوْلَا ذَاكَ أُبْرِزَ قَبْرُهُ غَيْرَ أَنَّهُ خُشِيَ أَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا

د اُمُّ المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ اوفرمایل په هغه بیمارئ کښې چه د هغې نه پس جوړ نهٔ شو. لعنت د الله پاک د وی په یهودو او نصرٰاو چه هغوی د خپلو پیغمبرانو قبرونو لره جماعت جوړ کړو. حضرت عائشےؓ ویلی دی کهٔ چرے رسول اللهﷺ ته د دے خبرے خیال نهٔ وے. نو د هغهٔ قبر مبارک به په کھولاو جائے کښې وو. په حجره کښې به نهٔ وو. مگر هغه یریدو چه چرته خلق د هغهٔ د قبر نه جماعت جوړ نهٔ کړی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاتَلَ اللهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. الله د تباه کړی یهودو لره چه هغوی د خپلو پیغمبرانوؑ قبرونو لره جماعتونه جوړ کړی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ اوفرمایل. لعنت د وی د الله پاک په یهودو او نصاراو باندے چه هغوی د خپلو پیغمبرانوؑ د قبرونو نه جماعتونه جوړ کړی دی.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عَائِشَةَ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ قَالَا لَمَّا نُزِلَ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلٰى وَجْهِهِ فَإِذَا اغْتَمَّ كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ فَقَالَ وَهُوَ كَذٰلِكَ لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارٰى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ

د عبیدالله بن عبدالله نه روایت دے. حضرت عائشےؓ او عبد الله بن عباسؓ ویلی دی. چه هر کله د رسول اللهﷺ د وفات وخت نژدے شو نو هغهٔ څادر په خپل مخ مبارك اچول شروع کړل. کله چه به هغهٔ اویریدونو څادر به ئې د مخ نه لرے کولو او فرمایل به ئې. په یهودو او نصرٰاو باندے د د الله پاک لعنت وی. چه هغوی د خپلو پیغمبرانوؑ قبرونو لره جماعتونه جوړ کړل. هغه یریدهٔ چه چرته خپل

---

[1] یهودو او نصرٰاو د خپلو پیغمبرانو د قبرونو نه جماعتونه جوړ کړل یعنی د جماعتونو په شان هلته درنړا کولو او نذرونیاز رسول، دعا غوختل. د عبادت کولو دپاره روازنه تگ راتگ کولو

يُحَذِّرُ مِثْلَ مَا صَنَعُوا

خلق م هم داسې او نهٔ کړي.

عَنْ جُنْدَبٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ بِخَمْسٍ وَهُوَ يَقُولُ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَى اللهِ أَنْ يَكُونَ لِي مِنْكُمْ خَلِيلٌ فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى قَدِ اتَّخَذَنِي خَلِيلًا كَمَا اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِي خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ

د جندب بن عبد اللهؓ نه روایت دی. چه ما درسول اللهﷺ د وفات نه پنځهٔ ورځې مخکښې واوریدل چه هغهٔ فرمایلي. زهٔ بې زاره یم د دې خبرې نهٔ چه چالره ستاسو نه خپل دوست جوړ کړم سوا د خدائې نه ولې چه الله تعالی ماله دوست جوړ کړې دې. لکه ابراهیم علیه السلام چه ئې دوست جوړ کړې وو او که چرې زهٔ په خپل اُمت کښې چا لره دوست جوړولو والا وې. نو ابوبکرؓ به م دوست جوړ کړې وو. تاسو خبردار شئ ستاسو نه مخکښې خلقو خپلو پیغمبرانوؑ او د نیکو خلقو قبرونو لره جماعتونه جوړ کړي وو. خبردار! چرته تاسو د قبرونو نه جماعتونه جوړ نهٔ کړئ زهٔ تاسو لره د دې خبرې نه منع کوم [1].

بَابُ فَضْلِ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ وَالْحَثِّ عَلَيْهَا

باب : د جماعت د جوړولو فضیلت او د هغې طرفته شوق پیدا کول

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ الْخَوْلَانِيِّ يَذْكُرُ أَنَّهُ سَمِعَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ عِنْدَ قَوْلِ النَّاسِ فِيهِ حِينَ بَنَى مَسْجِدَ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ

د عبید الله خولاني نه روایت دې. حضرت عثمانؓ چه هر کله د رسول اللهﷺ جماعت لره جوړ کړو. نو خلقو بد اوګڼړلو. حضرت عثمانؓ اووې. تاسو په ما باندې ډیر زیاتې اوکړو. ما خو د رسول

---

[1] د دوست نه مراد دلته هغه دې چه د چا په طرف زړهٔ اولګوي پیغمبرؑ لره داسې دوستي د چا سره نهٔ وه. ولې چه دا دوستي د خدائې په دوستئ کښې خلل غورځوي. هغهٔ اوفرمایل چه کهٔ چرې داسې دوستي ما د چا سره ساتلې نو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره به م ساتلې وه. د دې حدیث نه د ابوبکر رضی الله عنه لوئې فضیلت معلوم شو. نووي رحمه الله ویلي دي هغه د خپل قبر او د بل چا د قبر د جامعت جوړولو نه خکه ممانعت اوکړو چه هسې نه چرته خلق د قبر تعظیم د حد نه زیات کړي او په ګناه کښې پریوځي. او کله دغه ګناه د کفر پورې اورسیږي. لکه ځنګه چه د ړومبو امتونو حال وو. او هر کله چه د صحابو رضی الله عنهم او تابیعینو رحمهم الله په زمانه کښې مسجد نبوي لره د لویولو ضرورت شو او د حضرت عائشې رضی الله عنها حُجره چه په هغې کښې قبرونه وو د هغه ځائې پورې جماعت رااورسیدو نو هغه خلقو زبر لره پټ کړو او د هغې نه چا پیره ئې دنګ دنګ دیوالونه اوچت کړل د دې دپاره چه د حضور صلی الله علیه وسلم قبر نه ښکاري او عوام د هغې په طرف مونځ نهٔ کوي. او په افت کښې پرې نهٔ وځي. بیائې دوه دیوالونه د شمالي جانب نه نور اوچت کړه خه یو سرې د قبر په طرف مخ نهٔ کړي او ددغې دپاره په دویم حدیث کښې راغلل. چه کهٔ چرې دا یره نهٔ وې نو هغه به خپل قبر لره کهولاو ساتلې وو.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ قَدْ أَكْثَرْتُمْ وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلّٰهِ تَعَالَى قَالَ بُكَيْرٌ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ يَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ابْنَ عِيسَى فِي رِوَايَتِهِ مِثْلَهُ فِي الْجَنَّةِ

الله ﷺ نه اوریدلی دی. هغهٔ ﷺ فرمایلی وو. څوک چه د الله دپاره جماعت جوړ کړي. او اصل د حدیث راوی بکیر ویلی دی. خما خیال داد ے چه هغوی اووے چه خالص د خدائے رضامندی د هغهٔ مقصود وی (نه شهرت او نوم پیدا کول یا ضد یا نفسانیت) نو الله تعالی د هغهٔ دپاره په جنت کښ یو کور جوړ کړي. او د ابن عیسیٰ په روایت کښ دی دغه شان یو کور په جنت کښ جوړ وی[1].

عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ أَرَادَ بِنَاءَ الْمَسْجِدِ فَكَرِهَ النَّاسُ ذٰلِكَ فَأَحَبُّوا أَنْ يَدَعَهُ عَلَى هَيْئَتِهِ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلّٰهِ بَنَى اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ مِثْلَهُ

د محمود بن لبید نه روایت دے چه حضرت عثمانؓ د جماعت د جوړولو اراده اوکړه نو خلقو بده اوګڼړله هغې لره. او دائے غوښته چه جماعت د په خپل حال باند ے پریخود ے شی. (یعنی څنګه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښ وو) حضرت عثمانؓ اووے . ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. هغهٔ ﷺ فرمایلی وو. کوم سړے چه د خدائے دپاره و جماعت جوړ کړي. نو الله تعالی د هغهٔ دپاره په جنت کښ و کور هغه شان جوړ وی

بَابُ النَّدْبِ إِلَى وَضْعِ الْأَيْدِي عَلَى الرُّكَبِ فِي الرُّكُوعِ وَنَسْخِ التَّطْبِيقِ

باب : په رکوع کښ لاسونه په زنګونانو کیښودل او د تطبیق منسوخ کیدل[2]

عَنِ الْأَسْوَدِ وَعَلْقَمَةَ قَالَا أَتَيْنَا عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ فِي دَارِهِ فَقَالَ أَصَلَّى هٰؤُلَاءِ خَلْفَكُمْ فَقُلْنَا لَا قَالَ فَقُومُوا فَصَلُّوا فَلَمْ يَأْمُرْنَا بِأَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ

د اسود او علقمه نه روایت دے چه مونږ دواړه د عبدالله بن مسعودؓ خواله لاړو د هغهٔ په کور کښ هغوی تپوس اوکړو ولے هغه خلقو (یعنی ددغه زمانے نوابانو او امیرانو) په تاسو پسے مونځ کړے دے. مونږ اووے . نه دے. هغوی اووے پاځئ او مونځ اوکړئ ولے چه د مانځهٔ

[1] هغه شان کور ، یعنی صرف په کور ویلو کښ. ولے چه د جنت کور لره د دنیا د کور سره څهٔ نسبت دے. یا هغه کور د جنت په کورونو باند ے داسے شان فضیلت لری لکه جماعت چه په دنیا کښ په نورو کورونو باند ے فضیلت یعنی غوره والے لری.

[2] تطبیق دے ته وائی چه دواړو لاسونو لره برابر پیوست کړی د ورنونو په مینځ کښ ایخودل. اول حکم وو چه په رکوع کښ به دغه شان کوی روستو دد ے نه دا حکم منسوخ شو او لاسونو لره په زنګونانو باند ے د ایخودلو حکم اوشو. اوس کهٔ چرے څوک تطبیق کوی نو هغه مکروه دے. د اکثر علماؤ دغه قول دے. مګر د ابن مسعود او علقمه او اسود په نز تطبیق سنت دے. هغوی ته د نسخ حدیث نه دے رسیدلے چه هغه حدیث لره سعد ابن ابی وقاص روایت کړے دے. (امام نووی رحمه الله)

قَالَ وَذَهَبْنَا لِنَقُومَ خَلْفَهُ فَأَخَذَ بِأَيْدِينَا فَجَعَلَ أَحَدَنَا عَنْ يَمِينِهِ وَالْآخَرَ عَنْ شِمَالِهِ قَالَ فَلَمَّا رَكَعَ وَضَعْنَا أَيْدِينَا عَلَى رُكَبِنَا قَالَ فَضَرَبَ أَيْدِينَا وَطَبَّقَ بَيْنَ كَفَّيْهِ ثُمَّ أَدْخَلَهُمَا بَيْنَ فَخِذَيْهِ قَالَ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ إِنَّهُ سَتَكُونُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ مِيقَاتِهَا وَيَخْنُقُونَهَا إِلَى شَرَقِ الْمَوْتَى فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمْ قَدْ فَعَلُوا ذَلِكَ فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِمِيقَاتِهَا وَاجْعَلُوا صَلَاتَكُمْ مَعَهُمْ سُبْحَةً وَإِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَصَلُّوا جَمِيعًا وَإِذَا كُنْتُمْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَلْيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ وَإِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَلْيَفْرِشْ ذِرَاعَيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَلْيَجْنَأْ وَلْيُطَبِّقْ بَيْنَ كَفَّيْهِ فَلَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى اخْتِلَافِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرَاهُمْ

وخت شوے دے. او د امیرانو او نوابانو په انتظار کښې خپل مونځ ناوخته کول ضروری نۀ دی بیائے مونږ ته حکم د اذان ورکولو او د اقامت کولو او نۀ کړلو. مونږ د هغۀ شاته اودریدلو. نو هغۀ مونږ دلاسه اونیوو. یو ے ښی طرف ته کړو او بل ئے گس طرفته کله چه مونږ رکوع کوله نو مونږ لاسونه په زنګونانو باندے کیښودل هغوی زمونږ لاسونه اووهل او منګولے ئے یو ځئ کړے او د ورنونو په مینځ کښې ئے کیښودے. هر کله چه مونځ اوشو نو اوئے ویل. اوس به ستاسو نوابان او امیران داسے پیدا کیږی چه هغه به په مانځۀ کښې دد ے وخت نه حصار والے کوی او مونځ به تنګوی. ترد ے پورے چه نمر به ډوبیدو ته نږدے شی. (یعنی د ماز یګر په مانځۀ کښې به دومره ناوخته کوی) هر کله چه ته هغوی لره په داسے کولو اووینے. نو خپل مونځ په وخت باندے ادا کوه. (یعنی په غوره وخت باندے) بیائے د هغوی سره د نفل مانځۀ په طور باندے کوه. او هر کله چه تاسو درے سړی یئ نو ټول په جمع مونځ کوئ (یعنی برابر اودریږئ او امام به په مینځ کښې وی) او هر کله چه د دریو نه زیات وی نو یو سړے به امام جوړ شی او هغه به مخکښې اودریږی او کله چه رکوع کوی نو خپل لاسونه به په ورنونو باندے کیږدی او ښکته به شی. او دواړه ورغوی به جوړه کړی او په ورنونو به ئے کیږدی لکه چه زۀ دا وخت د رسول الله ﷺ ګوتو مبارکو لره وینمه[1].

[1] د امیرانو او نوابانو په انتظار کښې خپل مانځۀ لره روستو کول ضروری نۀ دی. بیائے مونږ ته حکم او نۀ کړو د اذان کولو او نۀ د اقامت د کولو دا مذهب د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دے. او د بعضو سلفو هم دے. څوک چه کور کښې یواځے مونځ کوی په هغه کلی کښې چه هلته اذان او اقامت کیږی نو هغۀ لره اذان او اقامت کول ضروری نۀ دی لیکن د جمهور علماؤ سلف او خلف دا قول دے چه اقامت سنت دے. دد ے دپاره هم او په اذان کښې اختلاف دے. دد ے حدیث نه دا هم معلومه شوه. چه جماعت په کور کښې هم ادا کول صحیح دی. لیکن په دے سره فرض کفایه نۀ ادا کیږی. د کومے پورے چه په جماعت کښې او نۀ کړے شی. او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دا خیال کړے دے. چه فرض ساقط کیږی. د امیرانو او نوابانو په جماعت ادا کولو سره اګر کۀ هغه ئے ناوخته کوی

عَنْ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ أَنَّهُمَا دَخَلَا عَلَى عَبْدِ اللهِ فَقَالَ أَصَلَّى مَنْ خَلْفَكُمْ قَالَ نَعَمْ فَقَامَ بَيْنَهُمَا وَجَعَلَ أَحَدَهُمَا عَنْ يَمِينِهِ وَالْآخَرَ عَنْ شِمَالِهِ ثُمَّ رَكَعْنَا فَوَضَعْنَا أَيْدِيَنَا عَلَى رُكَبِنَا فَضَرَبَ أَيْدِيَنَا ثُمَّ طَبَّقَ بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ جَعَلَهُمَا بَيْنَ فَخِذَيْهِ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ هٰكَذَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د علقمه او اسود نه روایت دے هغه دواړه د عبد الله ابن مسعودؓ خواله راغلل هغوی اووے ولے ستا نه روستو خلقو مونځ اوکړو. هغوی اووے آو. بیا عبد اللهؓ د هغے دواړو په مینځ کښې اودریدو. یو ئے ښی طرفته کړو او بل ئے ګس طرفته. بیا چه رکوع کوله نو مونږ خپل لاسونه په زنګونانو باندے کیښودل عبد اللهؓ زمونږ لاس اووهل او تطبیق ئے اوکړو، یعنی دواړو ورغوو لره ئے میلاو کړل او د ورنونو په مینځ کښې ئے کیښودو. هر کله چه مونځ اوشو نو اوئے ویل چه رسول اللهﷺ داسے کړی دی

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ صَلَّيْتُ إِلَى جَنْبِ أَبِي قَالَ وَجَعَلْتُ يَدَيَّ بَيْنَ رُكْبَتَيَّ فَقَالَ لِي أَبِي اضْرِبْ بِكَفَّيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ قَالَ ثُمَّ فَعَلْتُ ذٰلِكَ مَرَّةً أُخْرَى فَضَرَبَ يَدَيَّ وَقَالَ إِنَّا نُهِينَا عَنْ هٰذَا وَأُمِرْنَا أَنْ نَضْرِبَ بِالْأَكُفِّ عَلَى الرُّكَبِ

د مصعب بن سعدؓ نه روایت دے ما د خپل پلار په خواه کښې مونځ کولو او خپل لاسونه مې د دواړو زنګونانو په مینځ کښې ایخودی وو. نو ځما پلار اووے دواړه ورغوی په زنګونانو باندے کیږده. وائی چه ما بیا دوباره داسے اوکړو. نو هغوی ځما لاس اُوهو او اوئے ویل چه مونږ منع شوی یو د داسے کولو نه او حکم شوے دے مونږ ته د دواړو ورغوو په زنګونانو باندے د ایخودلو. (یعنی په رکوع کښې)

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ رَكَعْتُ فَقُلْتُ بِيَدَيَّ هٰكَذَا يَعْنِي طَبَّقَ بِهِمَا وَوَضَعَهُمَا بَيْنَ فَخِذَيْهِ فَقَالَ أَبِي قَدْ كُنَّا نَفْعَلُ هٰذَا ثُمَّ أُمِرْنَا بِالرُّكَبِ

د مصعب بن سعدؓ نه روایت دے چه ما رکوع اوکړه نو دواړه لاسونه مې یو ځائے د ورنونو په مینځ کښې کیښودل. ځما پلار اووے. مخکښې به مونږ داسے کول. بیا مونږ ته په زنګونانو باندے د لاسونو ایخودو حکم اوشو.

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ صَلَّيْتُ إِلَى

د مصعب بن سعدؓ نه روایت دے چه ما د خپل پلار په خواه کښې یو

هر کله چه تاسو هغوی لره په داسے کولو یعنی د مازیګر مونځ په ناوخت کولو اووینئ نو خپل مونځ په وخت ادا کوئ بیا د هغوی سره دوباره د نفلو په طور باندے مونځ کوئ دد ے دپاره چه شر او فساد پیدا نهٔ شی او د امیرانو د تکلیف نه بچ شئ هغوی به داسے اوګنړی چه تاسو فرض د هغوی سره ادا کړل او تاسو به خپل فرض وړاندے ادا کړی وی دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د فتنے او فساد نه بچ کیدل غوره دی کهٔ چرے په ګناه کښې نه پریوزی او کوم چه بغیر د ګناه نه د فتنے نه نهٔ شی بچ کیدے نو ګناه به نهٔ کوی او په فتنه باندے به صبر کوی او دا هم معلومه شوه چه په اول وخت کښې مونځ کول غوره دی او دا هم معلومه شوه چه څوک یو مونځ لره په دوباره ادا کړی نو په رومبی حل فرض او په دویم نفل شو دا صحیح دے.

جَنْبِ أَبِي فَلَمَّا رَكَعْتُ شَبَّكْتُ أَصَابِعِي وَجَعَلْتُهُمَا بَيْنَ رُكْبَتَيَّ فَضَرَبَ يَدَيَّ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ قَدْ كُنَّا نَفْعَلُ هٰذَا ثُمَّ أُمِرْنَا أَنْ نَرْفَعَ إِلَى الرُّكَبِ

طرفته مونږ كولو. هر كله چه زۀ ركوع له لاړم نو د دواړو لاسونو ګوتې مې په يو بل كښې واچولې او د دواړو زنګونانو په مينځ كښې مې كيښودې. هغوى خما لاس اووهو. هر كله چه مونځ اوشو. نو اوئې ويل مخكښې به مونږ داسې كول بيا مونږ ته د لاسونو په زنګونانو د ايښودو حكم اوشو.

بَابِ جَوَازِ الْإِقْعَاءِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ

باب: په پوندو د ګُناتو ايښودل او كيناستل [1]

عَنْ طَاوُسٍ يَقُولُ قُلْنَا لِابْنِ عَبَّاسٍ فِي الْإِقْعَاءِ عَلَى الْقَدَمَيْنِ فَقَالَ هِيَ السُّنَّةُ فَقُلْنَا لَهُ إِنَّا لَنَرَاهُ جَفَاءً بِالرَّجُلِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بَلْ هِيَ سُنَّةُ نَبِيِّكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د طاؤس نه روايت دى. چه مونږ ابن عباس ؓ ته اووے. تۀ د اقعاء د ناستې په باره كښې څۀ وائې؟ هغوى اووے دا سنت دى. مونږ اووے. مونږ خو دے ناستې لره "په پوندو او كناتو" باندے (يا په خپه باندے) ظلم "بد" ګڼړو. هغوى اووے. واه دا خو سنت دى ستاسو د نبى كريم ﷺ [2].

بَابِ تَحْرِيمِ الْكَلَامِ فِي الصَّلَاةِ وَنَسْخِ مَا كَانَ مِنْ إِبَاحَتِهِ

باب: په مانځۀ كښې خبرے كول حرام دى. په شروع كښې چه د خبرو كولو اجازت وو هغه منسوخ شوے دے

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ قَالَ بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ اللهُ فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ وَاثُكْلَ أُمِّيَاهْ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ فَجَعَلُوا

د معاويه بن حكم سلمى ؓ نه روايت دے چه ما د رسول الله سره مونځ كولو. چه په دے كښې په مونږ كښې يو سړے اوپرنجيدو. ما اووے يَرْحَمُكَ اللهُ. نو خلقو ماته نيغ نيغ كتل شروع كړل. ما اووے. چه افسوس په ما باندے خما مور اوژاړه (يعنى زۀ مړ و ے) تاسو ولے ماته نيغ نيغ ګورئ. د دے په اوريدو سره هغه خلقو پخپلو لاسونو په ورنونو

---

[1] په پوندو باندے ګناتو ايښودلو او كيناستلو ته په عربئ كښې اقعاء وائې.

[2] امام نووى رحمه الله وائى چه د اقعاء په باره كښې دوه حديثونه وارد دى. د يو حديث په رُو سره خو اقعاء سنت ده او په دويم حديث كښې ممانعت دے. او علماؤ اختلاف كړے دے د اقعاء په حكم او د اقعاء په تفسير كښې او صحيح داده چه د. اقعاء دوه قسمونه دى. يو خو دادے چه خپل دواړه كناتې په زمكه باندے اولګوے. او پنډي لره اودروى او لاسونو لره د سپى په شان په زمكه باندے كيږدى. دا مكروه دى او په حديث كښې د دغے ممانعت دے دويمه دا چه د دواړو سجدو په مينځ كښې په پوندو كيښني. او دغه د ابن عباس رضى الله عنه مراد دے او دا اقعاء د دواړو سجدو په مينځ كښې سنت ده. د شافعي رحمه الله په نز او صحابو او سلفو نه منقول ده. انتهى مختصراً

يَضْرِبُونَ بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُونَنِي لَكِنِّي سَكَتُّ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبِأَبِي هُوَ وَأُمِّي مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلاَ بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ فَوَاللَّهِ مَا قَهَرَنِي وَلاَ ضَرَبَنِي وَلاَ شَتَمَنِي قَالَ إِنَّ هَذِهِ الصَّلاَةَ لاَ يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلاَمِ النَّاسِ إِنَّمَا هُوَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَقَدْ جَاءَ اللَّهُ بِالإِسْلاَمِ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالاً يَأْتُونَ الْكُهَّانَ قَالَ فَلاَ تَأْتِهِمْ قَالَ وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ فَلاَ يَصُدَّنَّهُمْ قَالَ ابْنُ الصَّبَّاحِ فَلاَ يَصُدَّنَّكُمْ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ قَالَ وَكَانَتْ لِي جَارِيَةٌ تَرْعَى غَنَمًا لِي قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا الذِّيبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِهَا وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي آدَمَ آسَفُ كَمَا يَأْسَفُونَ لَكِنِّي صَكَكْتُهَا صَكَّةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَظَّمَ ذَلِكَ عَلَيَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلاَ أُعْتِقُهَا قَالَ ائْتِنِي بِهَا فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَالَ

باندے وھل شروع کړل ھر کله چه ما اولیدل چه دوی ما لره چُپ کول غواړی نو زهٔ چُپ شوم. کله چه رسول الله ﷺ مونځ ادا کړو. نو قربان دِ شی د ھغهٔ نه خما پلار او مور چه ما نهٔ د ھغهٔ نه مخکښې او نهٔ د ھغهٔ نه روستو څوک ښهٔ تعلیم خودلو والا لیدلے دے. په خدائے مِ دِ قسم وی چه زهٔ نهٔ ھغهٔ ﷺ ارټلم نهٔ ئے اووھلم او نهٔ ئے راته کنځل اوکړل خو دغهٔ ئے اوفرمایل چه په مانځهٔ کښې دنیایی خبرے کول صحیح نهٔ دی. ھغه خو تسبیح او تکبیر او قرآن مجید لوستل دی یا څنګه چه ھغهٔ اوفرمایل. ما عرض اوکړو یا رسول اللهؐ! خما د جاھلیت زمانه اوس تیره شوے ده. اوس مو الله تعالی اسلام نصیب کړو. زمونږ نه بعضے خلق د کاھنانو (پنډتانو، نجومیانو) خواله ځی. حضرت ﷺ اوفرمایل تهٔ د ھغوی خواله مهٔ ځه بیا ما اووے. بعضے زمونږ نه بد ګمانی کوی. حضرت ﷺ اوفرمایل دا د ھغوی دزړونو خبره ده. تهٔ د څهٔ کار نهٔ ھغوی مهٔ منع کوه یا د تا نهٔ منع کوی. بیا ما اووے زمونږ نه بعضے خلق کرښے راکاږی (یعنی په کاغذ باندے یا په زمکه باندے) لکه چه رمّال کوی. حضرت ﷺ اوفرمایل. یو پیغمبر کرښے راښکودے. بیا چه څوک ھغه شان کرښے راکړی نو ھغه صحیح دی معاویهؓ وائی خما یوه وینځه وه. چه ھغے به د أحد او جوانیه (دیو مقام نوم دے) په طرف کښې بزے څرولے. یوه ورځ چه زهٔ ھلته راغلم نو څهٔ ګورم چه شرمخ یوه بزه تختولے ده. آخر زهٔ ھم یو بنده یم ماته ھم غصه راځی څنګه چه نورو خلقو ته راځی. ما ھغه یوه څپیړه اووھله بیا زهٔ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم. نو رسول الله ﷺ خما دے کار ته ډیر لوئے اووے. ما اووے یا رسول الله ﷺ ولے زهٔ دغے وینځے لره آزاده نهٔ کړم؟ حضرت ﷺ اوفرمایل ھغه خما خواله راوله ما د ھغهٔ ﷺ خواله بوتله حضرت ﷺ د

لَهَا أَيْنَ اللهُ قَالَتْ فِي السَّمَاءِ قَالَ مَنْ أَنَا قَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللهِ قَالَ أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ	هغې نه تپوس اوکړو الله کوم ځائے دے؟ هغې اووے په آسمان کښې دے. حضرت ﷺ اوفرمايل زۀ څوک يم؟ هغې اووے تۀ د الله رسول ئے يعنی تۀ الله رالیږلے ئے. بیا هغۀ ﷺ اوفرمايل تۀ دے لره آزاده کړه دا مؤمنه ده[1].

[1] ددے په اوریدو سره هغه خلقو په خپلو لاسونو باندے ورنونه وهل شروع کړل خما د چُپ کولو دپاره. کیدے شي چه ددغه وخت پورے دداسے کارونو دپاره د تسبیح رواج نۀ وو. ددے حدیث نه دا هم معلومیږی چه په مانځۀ کښې د ضرورت په وجه لږ عمل صحیح دے او په هغې کښې مکروه والے نشته. (نووی رحمه الله)

ما د هغۀ نه وړاندے نۀ څوک د هغۀ نه ورستو څوک غوره ایزده کونکے اولیدو (یعنی ښودونکے) په دے حدیث کښې بیان دے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خُلق عظیم. چه د هغې ګواهي خدائے پاک په قرآن عظیم کښې ورکړے ده. او نظیر دے. د ښودونکو دپاره چه په څۀ شان صبر او نرمي او شفقت په تعلیم کښې لازم دے.

په مانځۀ کښې دنیاوی خبرے کول صحیح نۀ دی. ددے حدیث شریف نه ثابته شوه چه په مانځۀ کښې خبرے کول حرام دی. اګر کۀ په ضرورت یا مصلحت سره وی. بیا کۀ چرے ډیر ضرورت د چا د خبرولو یا ددنته راتلو د اجازت ورکولو واقع شی. نو تسبیح د اووائی کۀ چرے مونځ کونکے سړے وی. او کۀ چرے ښځه وی نو دستک به اووهی. دغه زمونږه د امام مالک، امام ابوحنیفه رحمهما الله او د جمهور سلفو او خلفو مذهب دے. او د علماؤ د یو ټولګی په نز لکه اوزاعی رحمه الله وغیره په مانځۀ کښې خبرے کول د څۀ مصلحت په وجه سره صحیح دی. او دلیل د هغوی د ذوالیدین حدیث دے. چه هغې لره به مونږ په خپل مقام باندے بیان کړو. انشاء الله دا اختلاف د هغه سړی دپاره دے چه هغه قصداً په مانځۀ کښې خبرے اوکړی. لیکن کۀ چری په هیره سره خبرے اوکړی نو په لږو خبرو کولو سره زمونږ په نز مونځ نۀ فاسدیږی. او د امام مالک او احمد رحمهما الله او جمهور علماؤ هم دغه قول دے. او د امام ابوحنیفه رحمه الله او خاوندانو د کوفے په نز مونځ باطلیږی. زمونږ دلیل د ذوالیدین حدیث دے. او څوک چه په هیره سره ډیرے خبرے اوکړی نو په دے کښې زمونږ د ملګرو دوه قولونه دی. صحیح دادے چه مونځ پرے باطلیږی. دغه شان کۀ چری هغه سړے خبرے اوکړی چه هغه نوے مسلمان شوے وی او د مانځۀ د احکامو نه ښۀ خبر نۀ وی. نو د هغۀ مونځ هم نۀ باطلیږی. او دلیل د هغې دا حدیث د معاویه بن حکم دے. هغوی د ناخبرے په وجه سره په مانځۀ کښې خبرے کړے وے لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم هغۀ ته د مانځۀ د راګرځولو حکم اونۀ کړو. صرف دومره ئے ورته اوښودله چه په مانځۀ کښې خبرے کول حرام دی.

هغه خو تسبیح او تکبیر او قرآن مجید لوستل دی. یا لکه چه هغۀ فرمایلی دی. یعنی په مانځۀ کښې د الله پاکی بیانول، تکبیر ویل. قرآن لوستل دی او دغه شان کومے خبرے چه ددے په شان دی. لکه تشهد، دُعا، سلام وغیره. دا ټول احکام مشروع دی. خو په خلقو کښې چه کومے په خپلو کښې خبرے کیږی. دغه قسم خبرے په مانځۀ کښې نۀ دی کول پکار. ددے حدیث نه معلومه شوه چه کۀ چرے یو سړے قسم اوخوری. چه زۀ به خبره نۀ کوم بیا تسبیح اووائی یا تکبیر یا قرآن اولولی. نو د هغۀ قسم نۀ ماتیږی. زمونږ صحیح او مشهور مذهب دغه دے. او دا هم ثابته شوه چه تکبیر تحریمه فرض دے. او د مانځۀ جزء دے. او دا هم معلومه شوه چه د پرنجی جواب ورکول سنت نۀ دی. او د پرنجی جواب هم په دنیاوی خبرو کښې داخل دے. چه په هغې سره مونځ ماتیږی. البته پرنجیدونکے به په روغوندے الحمد الله وائی. زمونږ او د مالک رحمه الله دغه قول دے. او د عبد الله بن عمر رضی الله عنه او نخعی او احمد رحمهما الله په نز به په زوره سره وائی. (نووی رحمه الله)

زمونږ نه بعضے خلق کاهنانو له ځی. حضرت ﷺ اوفرمایل ته د هغوی خواله مه ځه. علماؤ ویلی دی. حضرت صلی الله علیه وسلم کاهنانو له د تلو نه منع فرمایلی ده. ولے چه هغه د راتلونکی زمانے خبرے ښائی. او کله کله په اتفاق سره د هغوی څه خبرے صحیح اوخیژی نو یره ده چه بنده په دهوکه کښ پریوځی او اعتقاد نے پیدا شی او د صحیح صحیح احادیثو نه دا خبره ثابته ده. چه حضرت د کاهنانو خواله د تلو نه ا د هغوی خبرے د رښتیا گنړلو نه منع فرمایلی ده. هغوی ته چه کومه شیرینی وغیره ملاویږی. هغه په اجماع د اهل اسلام بالکل حرامه ده. بغوی رحمه الله ویلی دی چه اتفاق کړے دے علماؤ د کاهن د شیرینئ په حرامیدو باندے یعنی کومه شیرینی وغیره چه هغه ته په کهانت (یعنی د راتلونکی خبرے په ښودلو باندے) ملاویږی. ولے چه د کهانت کار باطل دے. په هغے باندے أجرت اخستل جائز نهٔ دی. ماوردی په احکام سُلطنیه کښ لیکلی دی. چه محتسب لره ځان ساتل پکار دی. د کهانت د أجرت ورکولو او اخستلو نه دغه شان د هرے لوبے د اجرت نه او سزا ورکول پکار دی. اخستونکی او ورکونکی والاته. او خطابی رحمه الله ویلی دی چه کاهن ته چه کومه شیرینی میلاویږی د کهانت په عوض هغه حرامه ده. او دغه شان د عراف هم او په کاهن او عراف کښ فرق داد دے. چه کاهن خو د عیب د پوهے دعوه کوی. او د راتلونکو خبرو او د راز د خبرو ښودنه کوی. او عراف هغه دے چه هغه د غل پته لگوی. او د غلا شوی مال د ښکاره کولو دعوه کوی. یا د ورک شوی څیز د پتے لگولو د خپل علم په زور سره. خطابی رحمه الله دویم حدیث په شرح کښ دا هم ویلی دی چه دعربو په ملک کښ کاهن هغه خلق وو. چه هغوی به د ډیرو خبرو د پیژندګلو دعوه کوله د هغوی نه بعضے دا وائی چه زمونږ دوست یو پیرے دے چه هغه خبرونه راورل کوی. او بعضے دا وائی چه مونږ ته داسے پوهه ملاؤ ده. چه د هغے په وجه سره مونږ ددے خبرو معلومات کوو. په دغه خلقو کښ عراف هم وو چه هغوی به د غلا د مال راویستلو او د غل پیژندلو او د ښځے د اشنا د پیژندلو دعوه کوله. کاهن منجم ته هم ویلے شی. بهر حال د حدیث نه دا امر صفا معلومیږی چه د هغهٔ خلقو خواله تلل یا د هغوی نه د څهٔ خبرے تپوس کول یا د هغوی خبره منل دا ټول منع دی. ختم شو کلام د خطابی رحمه الله

مترجم ویلی دی چه د دین اسلام د خوبیانو او برکتونو نه دا هم یوه لویه خوبی او برکت دے. چه هغه خلقو لره د غلطو خیالاتو او د دروغو د وسوسو نه او بے اصل وهمونو نه خلاصے ورکوی. کوم خلق چه مسلمانان نهٔ دی. او د نجومیانو، رمالانو، او پنډتانو معتقد دی. د هغوی راتلونکے ورځے ډیرے د تنگئ دی. چه د هرے خبرے په کولو یا نهٔ کولو کښ هغوی ته تامل دے. هغه د خپل عقل نه کار نهٔ شی اخستے. په آخر کښ په ټوله دنیا کښ بدنام او بے وقوفه جوړیږی. زمونږ په زمانه کښ څهٔ خلق داسے پیدا شوی دی. چه هغه دمخکښنی مسلمانانو نه هم په زیات عقل باندے د چلیدو دعوه کوی د پتے راوتلے په دے دعوی شرم نهٔ کوی او د نجومیانو او رمالو نه د غیب د خبرو پښتنه کوی او په هغوی باندے اعتقاد لری. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ

ما اووے زمونږ نه بعضے بد گمانِ اخلی. یعنی بدگمانِ اخستل د ځان نه جوړه کړے د زړهٔ یوه بے فائدے وسوسه ده. نو د بدشکونئ په خیال سره د څهٔ نوک کار نه قلاریدل نهٔ دی پکار. یعنی د بدشکونئ خیال کهٔ چرے په زړهٔ کښ تیر شی. نو قباحت نشته نهٔ بنده د هغے په وجه سره گنهگاریږی. لیکن په هغے باندے عمل کول منع دی. او د گناه باعث دی. او د ډیرو صحیح حدیثو نه دا امر ثابت دے چه د بد فالی منع ده.

بیا ما اووے زمونږ نه بعضے خلق کرښے راکاږی. لکه رمّال خه په کاغذ یا په زمکه باندے راکاږی. حضرت ﷺ اوفرمایل یو پیغمبر به کرښے راښکودلے بیا چه څوک هغه شان کرښے راکاږی. نو هغه صحیح دی گنی صحیح نهٔ دی. او چونکه مونږ ته هغه علم چه هغه، هغه پیغمبر ته میلاو وو مونږ ته نهٔ دے رارسیدلے. څکه مونږ لره کرښے راښکودل او خبره ښودل صحیح نهٔ دی. نووی رحمه الله وائی د علماؤ د ټولو خبرو اترو په دے باب کښ حاصل داد دے. چه زمونږ په شریعت کښ علم رمل بالکل منع دے.

اخر زهٔ هم بنیادم یم ماته هم غصه راځي. لکه چه هغې ته راځي. ما هغه یوه څپېړه اووهله. او خما په زړهٔ باندے دا امر ډیر سخت تیر شو یعنې د هغې وینځې وهل هر چند غلام، وینځې لره په قصور باندے سزا ورکول صحیح دي. مګر داسے سزا نهٔ چه د ظلم درجے ته اورسي. هیر میر غفلت دا د تولو نه کیږي. پخپله د یو شریف سړي نه کیږي. بیا غلام او وینځې لره د هم د خپل خان په شان اوګنړي د هغوي هیر یدل او تکلیف د هم معاف کړي. کهٔ چرے د یو سړي نه داسے سلوک نهٔ شي کیدے او په غلام او وینځه باندے ظلم کوي نو حاکم وخت هغهٔ لره سزا ورکولے شي. په دے زمانه کښې ډیر خلق د ناپوهئ د وجے نه په اسلام باندے معترض کیږي. چه په دے دین کښې غلامي جائز کړے شوے ده. حالانکه هغه غلامي کومه چه د شریعت په ورنئ سره په اسلام کښې جائز کړے شوے ده او څنګه چه د هغې استعمال په شریعت کښې ښودلے شوے دے. هغه په مثل د فرزند ده. او د نوکرئ نه په ډیرو درجو اوچته ده. مګر د هند خلق کیدے شي چه نوکرئ لره د عربو د غلامئ نه غوره خیال کوي. هغوي ته دا معلومه نهٔ ده چه په عربو کښې غلام د مالک سره یو خائے خوراک کوي. د مالک سره برابر کیښني د مالک په شان کپړے اغوندي. او په هند کښې د نوکرانو سره خوړل یا کیناستل یو لوئے ګناه خیال کولے شي. بیا چه د کوم امر تاسو پخپله بدسلوک کوئ نو دا ستاسو بدي ده، په هغه امر کښې څهٔ بدوالے نشته . د شریعت او اخلاقو تولو کارونه داسے دي چه هغه زیات پاک او صفا دي. خو کهٔ چرے هغې لره څوک په بده طریقه استعمالوي نو بد معلومیږي. دغه شان غلامئ لره خیال کول پکار دي

حضرت ﷺ د هغې وینځې نه تپوس اوکړو. الله کوم خائے دے؟ هغې اووے په آسمان باندے. په حدیث کښې د فِي السَّمَآءِ لفظ دے چه دهغې معنٰی عَلَی السَّمَآءِ ده. ولے چه فِي الْاَرْضِ او فرمایلي دي. وَلَاُصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُزُوْعِ النَّخْلِ . نووي ویلي دي دا حدیث د احادیثي صفاتو نه دے. او په دے کښې دوه مذهبونه دي.څه دهغې بیان په کتاب الایمان کې تیر شوےدے. یو مذهب دادے چه په دغه حدیثونو بادنے ایمان راوړي. او زیات لتون دهغې په مطلب کښې نهٔ کوي. او ددے خبرے اعتقاد لري چه د الله په مثل څهٔ څیز نشته دے. او دا مخلوق د نخښونه پاک دے. دویم مذهب دادے چه د هغې تاویل اوکړي په کوم شان سره چه لائق دے. اوس چا چه تاویل کړے دے هغه وائي چه رسول الله ﷺ ته د هغهٔ وینځې امتحان منظور وو. چه هغه موحده ده. خدائے واحد لاشریک مني او کهٔ مشرکه بت پرسته ده. هر کله چه هغې وینځې اووے. چه خدائے په آسمان باندے دے. نو معلومه شوه چه هغه موحده ده. د بتانو عبادت نهٔ کوي. او ددے نه دا مطلب نهٔ دے چه خدائے صرف په آسمان کښې دے. بلکه آسمان ددعا قبله ده.لکه چه څنګه کعبه د مانځهٔ قبله ده. قاضي عیاض رحمه الله ویلي دي د مسلمانانو د فقهاؤ او محدثینو او متکلمینو او ناظرینو او مقلدینو په دوی کښې د چا اختلاف نشته چه کوم ظاهر نصوص د الله تعالی په آسمان کښې د دننه کیدو په باره کښې راغلي دي. لکه ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ په دے کښې تاویل کړے شوے دے. اوس چه کوم د جهت فوق قائل دي بغیر د تحدید او تکلیف د محدثینو او فقهاء او متکلمینو نه هغه وائي د فِي السَّمَآءِ نه (چه د هغې ظاهر معنی د آسمان د دننے ده) عَلَی السَّمَآءِ مراد دے (یعنې د آسمان دپاسه) او کوم خلق د ناظرینو او متکلمینو نه چه د نفي او اتحاله جهت قایل دي. هغه په بل شان تاویلونه کوي. مثلاً وائي د فِي السَّمَآءِ نه مراد دادے چه د هغهٔ سلطنت او حکومت په آسمان کښې دے بهر حال اهل سنت او اهل حق په دے خبره باندے متفق دي. چه په ذات الهي کښې فکر نهٔ دي کول پکا ر او کیفیت او شکل بیانول حرام دي. او ددے سره د خدائے په وجود یا توحید کښې شک نهٔ پیدا کیږي. اوس بعضے ددے خبرے د نه پریدلی دي د خدائے دپارہ ئے جهت لره هم ثابت کړے دے. او په تکییف او اثبات جهات کښې فرق نشته لیکن کومے خبرے چه په شروع کښې د خدائے پاک دپاره وارد شوي دي. لکه هغه په خپلو بندیګانو باندے قاهر دے او هغه د عرش دپاسه دے. د هغې قائل کیدل او د تنزیے په باب کښې په دے جامع ایت لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ باندے کلک او محکم پاتے کیدل د تولو بدو نه بچ کوي چا لره چه خدائے توفیق ورکړي. ختم شو د قاضي عیاض رحمه الله

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلَاةِ فَتَرُدُّ عَلَيْنَا فَقَالَ إِنَّ فِي الصَّلَاةِ شُغْلًا

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روایت دے. چه مونږ به سلام کولو رسول الله ﷺ ته کله چه به هغه په مانځهٔ کښې وو. چه د هغې به هغه په مانځهٔ کښې جواب ورکولو. هر کله چه مونږ د نجاشي د خوا نه واپس راغلو. نو مونږ هغه ته سلام اوکړو هغه جواب رانهٔ کړو. د مونځ کولو نه پس مونږ تپوس اوکړو. یا رسول الله! مخکښې چه به مونږ تا ته اسلام اوکړو او تهٔ به په مانځهٔ کښې وے نو جواب به دِ راکوؤ. لیکن اوس تا جواب رانهٔ کړو (ددے څهٔ وجه وه) حضرت ﷺ اوفرمایل (په مانځهٔ کښې په سلام کولو سره) زړهٔ پریشانه کیږی (او په خضوع او خشوع کښې فرق راځی)

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي

د زید بن ارقم ؓ نه روایت دے. چه مونږ به په مانځهٔ کښې خبرے

(د اردو کتاب) مترجم وائی قاضی عیاض رحمه الله چه کومه عقیده بیان کړے ده. دغه اعتقاد دے د ټولو سلف او اهل سنتو. لکه د صحابو رضی الله عنهم او تابعینو او تبع تابعینو رحمهم الله د دے ټولو اعتقاد دغه دے. چه په شرعه کښې چه کومه خبره د خدائے پاک دپاره راغلی ده. هغې لره ویل پکار دی. او کومه نهٔ ده معلومه شوے هغې لره نهٔ دی ویل پکار. اوس د شرعے نه دا امر ثابت دے. چه الله د عرش دپاسه دے. د خپلو بندیګانو دپاسه د آسمان دپاسه او زمونږ سره دے. او د ښتې د رګونو نه هم ډیر زیات نږدے دے. او د هغهٔ نږدے والے او ملګرے کیدل په عرض باندے د کیدو نه خلاف نهٔ دی. ولے چه هغه په عرش باندے دپاتے کیدو سره زمونږه پټو او ښکاراؤ ټولو خبرو لره اوری وینی. نو هغه زمونږ سره شو کوم ځائے چه مونږ یو. په دے واسطه په یو ایت کښې خدائے پاک اوفرمایل چه هغه په عرش باندے دے. او هغه ستاسو سره دے. اوس دا خبرے چه خدائے پاک په څهٔ بل مکان او جهت کښې نشته. یا هغه په هر مکان او هر جهت کښې دے. او هغه نهٔ جوهر دے نهٔ عرض او هغه جسم نهٔ دے. د روستو خلقو تراشلے شوے خبرے دی. چه د هغې اصل په کتاب او سنت کښې بالکل نهٔ شی موندلی او مونږ د دے مسئلے لره په ډیر تفصیل سره په کتاب انتهاء فی الاستواء کښې بیان کړے ده. د چا زړهٔ چه غواړی هغه دِ اوګوری.

حضرت ﷺ وینځے ته اوفرمایل زهٔ څوک یم؟ هغې اووے. تهٔ د الله رسول ئے. بیا حضرت اوفرمایل دے لره آزاده دا مؤمنه ده. نووی رحمه الله ویلی دی. ددے حدیث نه دا وتلی دی چه د مسلمان غلام آزادول د کافر غلام د آزادلو نه غوره دی. لیکن علماؤ په دے باندے اتفاق کړے دے چه د کفارے نه سیوا په نورو مقاماتو کښې د کافر غلام هم آزادول صحیح دی. او د قتل په کفاره کښې د کافر غلام ازادول صحیح نهٔ دی. ولے چه په قرآن کښې د مؤمنه قید دے. او په کفاره د ظهار او قسم او روژه کښې د شافعی او مالک رحمهم الله او د جمهورو په نز مؤمن کیدل ضروری دی. د ابوحنیفه رحمه الله او اهل کوفه په نیز کافر هم صحیح دے. ددے حدیث نه دا هم ثابته شوه چه ایمان نه پوره کیږی د کومے پورے چه د خدائے تعالی د توحید او د حضرت د رسالت قائل نهٔ شی. او څوک چه اوس ددے دوارو خبرو قائل وی د هغهٔ ایمان صحیح دے. او هغه د خاوندانو د قبلے او خاوندانو د جنت نه دے. اوس دا ضروری نهٔ ده چه په دلائلو سره هغه خبرو لره اوپیژنی او دغه صحیح دے.

الصَّلَاةِ يُكَلِّمُ الرَّجُلُ صَاحِبَهُ وَهُوَ إِلَى جَنْبِهِ فِي الصَّلَاةِ حَتَّى نَزَلَتْ وَقُومُوا لِلهِ قَانِتِينَ فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ وَنُهِينَا عَنِ الْكَلَامِ

کولے هر سړی د خپلے خواه والا سره په مانځهٔ کولو کښې تردے پورے چه دا ایت وَقُومُوْا لِلهِ قَانِتِيْنَ نازل شو یعنی د الله په حضور کښې په عاجزئ سره اودریږئ د هغه وخت نه مونږ ته د چُپ اودریدو حکم اوشو او خبرے کول منع شو.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَنِي لِحَاجَةٍ ثُمَّ أَدْرَكْتُهُ وَهُوَ يَسِيرُ قَالَ قُتَيْبَةُ يُصَلِّي فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَأَشَارَ إِلَيَّ فَلَمَّا فَرَغَ دَعَانِي فَقَالَ إِنَّكَ سَلَّمْتَ آنِفًا وَأَنَا أُصَلِّي وَهُوَ مُوَجِّهٌ حِينَئِذٍ قِبَلَ الْمَشْرِقِ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ زهٔ د کار د پاره اولیږلم بیا زهٔ واپس د هغهٔ خواته را اورسیدم. هغه روان وو (په سورلئ) د قتیبهؒ په روایت دی مونځ ئے کولو (نفل ولے چه نفل په سورلئ صحیح دی) ما سلام اوکړو. هغهٔ ﷺ په اشاره سره جواب را کړو. کله چه د مانځهٔ نه فارغ شو نو زهٔ ئے را اوغوښتم او ئے فرمایل چه تا اوس ماته سلام کړے وو او ما مونځ کاؤ (ځکه م جواب درنهٔ کړو) حالانکه د هغهٔ مخ مبارک مشرق طرفته وو (او قبله د مشرق په طرف نهٔ وه. نو معلومه شوه چه نفل په سورلئ د کولو د پاره د قبلے په طرف مخ کول ضروری نهٔ دی)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَرْسَلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُنْطَلِقٌ إِلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ يُصَلِّي عَلَى بَعِيرِهِ فَكَلَّمْتُهُ فَقَالَ لِي بِيَدِهِ هٰكَذَا وَأَوْمَأَ زُهَيْرٌ بِيَدِهِ ثُمَّ كَلَّمْتُهُ فَقَالَ لِي هٰكَذَا فَأَوْمَأَ زُهَيْرٌ أَيْضًا بِيَدِهِ نَحْوَ الْأَرْضِ وَأَنَا أَسْمَعُهُ يَقْرَأُ يُومِئُ بِرَأْسِهِ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ مَا فَعَلْتَ فِي الَّذِي أَرْسَلْتُكَ لَهُ فَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أُكَلِّمَكَ إِلَّا أَنِّي كُنْتُ أُصَلِّي قَالَ زُهَيْرٌ وَأَبُو الزُّبَيْرِ جَالِسٌ مُسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةِ فَقَالَ

د جابرؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ د بنی مصطلق (یوه قبیله ده) په طرف روان وو. په لاره کښې ئے زهٔ په یو کار پسے اولیږلم بیا چه زهٔ واپس د هغهٔ خواله راغلم نو هغه په خپل اوښ باندے مونځ کولو. ما خبره اوکړه نو هغهٔ په لاس سره په دے شان اشاره اوکړه. زهیر اوښودله چه په کوم شان هغه اشاره اوکړه. بیا ما خبره اوکړه. نو هغه په هغه شان اشاره اوکړه. زهیر هغے لره د زمکے په طرف اشاره کړے اوښودله او ما اوریدل چه هغه قران لوستلو. او په سر ئے اشاره کوله (د رکوع او سجدے د پاره) هر کله چه هغه د مانځهٔ نه فارغ شو نو او ئے فرمایل. تا هغه کار د کوم کار د پاره چه ماتهٔ لیږلے وے اوکړو. او ما ستا سره خبرے نهٔ شوی کولے ولے چه ما مونځ کولو. زهیر وائی ابو الزبیر د قبلے په طرف مخ کړے وو ناست وو. (کله چه ئے دا حدیث بیان کړو) هغوی

بِيَدِهِ أَبُو الزُّبَيْرِ إِلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَقَالَ بِيَدِهِ إِلَى غَيْرِ الْكَعْبَةِ

د بنی مصطلق په طرف اشاره اوکړه نو هغه د کعبې په طرف نه وو. (بلکه د بنی مصطلق طرف بل وو. نو معلومه شوه. چه هغه نفل سوا د کعبې نه بل طرفته هم په سورلئ کړی دی)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَنِي فِي حَاجَةٍ فَرَجَعْتُ وَهُوَ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ وَوَجْهُهُ عَلَى غَيْرِ الْقِبْلَةِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ إِلَّا أَنِّي كُنْتُ أُصَلِّي

د جابر رض نه روایت دے. مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښ وو. هغهٔ زهٔ د څهٔ کار دپاره اولیږلم. هر کله چه زهٔ واپس راغلم نو هغهٔ په خپل اوښ مونځ کولو او د هغهٔ مخ د قبلې په طرف نه وو. ما سلام اوکړو هغهٔ جواب رانهٔ کړو. هر کله چه د مونځ نه فارغ شو نو اوئے فرمایل چه ما به جواب ضرور درکړے وو خو ما مونځ کولو[1]

بَابُ جَوَازِ لَعْنِ الشَّيْطَانِ فِي أَثْنَاءِ الصَّلَاةِ وَالتَّعَوُّذِ مِنْهُ وَجَوَازِ الْعَمَلِ الْقَلِيلِ فِي الصَّلَاةِ

باب: په مانځهٔ کښ په شیطان لعنت لیږل. او د هغهٔ نه پناه غوښتل او لږ عمل کول صحیح دے په مانځهٔ کښ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ

د ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی یو شریر پیری

---

[1] امام نووی رحمه الله وائی په دے احادیثو کښ څو فائدے دی یو خو دا چه په مانځهٔ کي خبرے کول حرام دی خواه کهٔ په ضرورت سره وی یا بے ضرورته دویمه دا چه د سلام جواب ورکول په ژبه سره حرام دی. البته په اشاره سره جائز بلکه مستحب دی. د احنافو په نز جائز نهٔ دی (عارف) د شافعی او اکثرو علماؤ دغه مذهب دے. او د علماؤ یو جماعت لکه ابوهریره او جابر رضی الله عنهما او سعید او قتاده. او اسحق رحمهم الله دا ویلی دی چه په ژبه سره دِ جواب ورکوی. او بعضو ویلی دی چه په زړهٔ کښ دِ جواب ورکوی. او عطاء او نخعی او ثوری رحمهم الله ویلی دی چه د مانځهٔ کولو نه پس دِ جواب ورکړی. او ابوحنیفه رحمه الله ویلی دی چه جواب به نهٔ ورکوی نهٔ په ژبه نهٔ په اشاره سره. اوس مونځ کونکی ته سلام کول مکروه دی یا جائز په دے کښ اختلاف دے. شافعی رحمه الله ویلی دی چه مونځ کونکی ته به سلام نهٔ کوی. او کهٔ چرے اوکړی نو د جواب حق نهٔ لری. (ځکه چه هغه به په مانځهٔ کښ څنګه جواب ورکړی) علماؤ په دے خبره باندے اتفاق کړے دے چه مونځ کونکی لره قصداً په مانځهٔ کښ خبرے کول حرام دی. کهٔ بے ضرورته خبره اوکړی نو مونځ باطلیدے شی لیکن کهٔ چرے په ضرورت سره خبرے اوکړی. نو د شافعی او مالک او ابوحنیفه او احمد رحمهم الله په نز مونځ باطلیږی. او د اوزاعی رحمه الله او ځنو مالکیو په نز په ضرورت سره په مانځهٔ کښ خبرے کول جائز دی کهٔ چرے په هیره سره خبرے اوکړی نو زمونږ په نز مونځ نهٔ باطلیږی. او د اکثرو علماؤ دغه قول دے او د ابو حنیفه رحمه الله او خاوندانو د کوفے په نز باطلیږی. دریمه دا چه په اشاره سره د سلام جواب په مانځهٔ کښ صحیح دے او لږ عمل سره مونځ نهٔ باطلیږی. څلورمه دا چه کهٔ چرے په څهٔ عذر سره د سلام جواب ورنهٔ کړے شی. نو سلام کولو والاته د هغه عذر بیان کړئ ځکه چه د هغهٔ زړهٔ خفه نهٔ شی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ جَعَلَ يَفْتِكُ عَلَيَّ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلَاةَ وَإِنَّ اللهَ أَمْكَنَنِي مِنْهُ فَذَعَتُّهُ فَلَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى جَنْبِ سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تُصْبِحُوا تَنْظُرُونَ إِلَيْهِ أَجْمَعُونَ أَوْ كُلُّكُمْ ثُمَّ ذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِي سُلَيْمَانَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي فَرَدَّهُ اللهُ خَاسِئًا

خما د مانځهٔ د ماتولو دپاره د شپې په آخري وخت كښې خپل كوشش اوكړو ليكن الله تعالى هغهٔ لره خما په قابو كښې كړو. ما د هغهٔ په مرئ زور كړو او خما اراده دا وه چه زهٔ د هغه لره د جماعت د يوې ستنې سره اوترم ددې دپاره چه سحرئې تاسو ټول اووينئ. ليكن ماته د خپل رور سليمان عليه السلام دُعا ياده شوه. هغوى دا دُعا كړې وه چه اې خما پروردګاره ما او ماله داسې سلطنت راكړه چه زمانه پس چا ته ملاؤ نهٔ شى. (نو الله تعالى هغهٔ لره هم هغه شان سلطنت وركړو. شيطان د هغهٔ مسخر وو پيريان ئې مسخر وو او مرغان د هغهٔ په اطاعت كښې دى) بيا الله تعالى هغهٔ لره د ذلت سره اوزغلوو[1].

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعْنَاهُ يَقُولُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ ثُمَّ قَالَ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ ثَلَاثًا وَبَسَطَ يَدَهُ كَأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ شَيْئًا فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الصَّلَاةِ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ

د ابوالدرداءؓ نه روايت دې. رسول الله ﷺ د مانځهٔ دپاره اودريدو. نو مونږ واوريدل چه هغه ويل زهٔ پناه غواړم په الله سره ستا نه بيائې اوفرمايل چه زهٔ په تا باندې لعنت كوم لكه چه اللهؓ پتا باندې لعنت كړې دې. درې ځله او خپل لاس ئې ورمخكښې كړو لكه چه څهٔ څيز رااخلى. هر كله چه د مانځهٔ نه فارغ شو نو مونږ عرض اوكړو. يا رسول

[1] نووى رحمه الله ويلي دي. ددې حديث نه معلوميږى. چه جنات موجود دى او بعضې خلقو ته ښكاريږى. او دا چه كوم الله تعالى فرمايلي دى چه شيطان او د هغهٔ خاندان والا تاسو لره وينى. په دې شان سره چه تاسو هغه نهٔ وينئ. نو دا محمول دې په غالب او اكثر احوال باندې او كهٔ چرې د شيطان او پيريانو ليدل محال وى. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به څنګه ليدلى وو. او څنګه به ئې فرمايلي وو چه خما اراده د هغه د تړلو وه ددې دپاره چه ټول خلق هغهٔ لره اووينى. او بلكه د مدينې د خلقو بچى د هغه سره لوبې لوكړى. قاضى عياض رحمه الله ويلي دى چه بعضو دا ويلي دى چه د هغوى ليدل د هغوى په اصلي صورتونو كښې په دليل د ظاهر آيت محال دى. مګر د پيغمبرانوؑ دپاره جائز دى. او د پيرى دپاره خرق عادت كيدې شى. او نور خلق چه ئې كوم وينى هغه ئې په نورو صورتونو كښې وينى. امام نووى رحمه الله ويلي دى دا خالص دعوه ده. كچرې ددې څهٔ صحيح دليل نهٔ وى. نو هغهٔ د قبول لائق نهٔ دې امام ابوعبد الله مازرى رحمه الله وائى چه جنات اجسام لطيفه روحانيه دى. نو احتمال دې چه هغه داسې صورت اونيسى چه د هغې په وجه سره هغه تړلې كيږى او بيا هغه خپل اصلي صورت ته نهٔ شى تلې. ددې دپاره چه بچى د هغهٔ سره لوبې اوكړى. او چه خرق عادت شى نو نورې خبرې هم ممكنې دى. انتهى. دا چه ئې اوفرمايل چه ما ته د سليمان عليه السلام دُعا ياده شوه د هغې مطلب دا دې چه چونكه الله تعالى د هغهٔ دُعا قبوله كړې وه. او داسې سلطنت چه پيريان او مرغان او هوا پكښې شامله وى نشته خو د هغهٔ دپاره خاص وو. خكه ما په دې سلطنت كښې د هغې شريك كيدل مناسب اونهٔ ګڼړل او خما نه نهٔ شوه كيدې.

قَدْ سَمِعْنَاكَ تَقُولُ فِي الصَّلَاةِ شَيْئًا لَمْ نَسْمَعْكَ تَقُولُهُ قَبْلَ ذٰلِكَ وَرَأَيْنَاكَ بَسَطْتَ يَدَكَ قَالَ إِنَّ عَدُوَّ اللهِ إِبْلِيسَ جَاءَ بِشِهَابٍ مِنْ نَارٍ لِيَجْعَلَهُ فِي وَجْهِي فَقُلْتُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قُلْتُ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ التَّامَّةِ فَلَمْ يَسْتَأْخِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَرَدْتُ أَخْذَهُ وَاللهِ لَوْلَا دَعْوَةُ أَخِينَا سُلَيْمَانَ لَأَصْبَحَ مُوثَقًا يَلْعَبُ بِهِ وِلْدَانُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ

الله ﷺ! نن مونږ ستا نه هغه خبرے کول واوریدل چه هغه وړاندې مونږ چرته نۀ وے اوریدلے او دا هم مونږ اولیدل چه تا خپل لاس ورمخکښې کړو. حضرت ﷺ اوفرمایل د الله دشمن ابلیس څما د خلے د سیزلو دپاره د اُور یوه شغله راوړه او راغے. ما درے خله اووے زۀ ستا نه په الله سره پناه غواړم. بیا ما اووے زۀ په تا باندے لعنت کوم لکه چه الله تعالی په تا باندے لعنت کړے دے پوره لعنت. هغه نۀ روستو کیدو. درے خله آخر کښې ما اوغوښتل چه زۀ دۀ لره اونیسم په خدائے قسم که چرے زمونږ د رور سلیمان علیه السلام دعا نۀ وے. نو هغه به د سحره پورے تړلے ناست وو. او د مدینے معشومانو به ورسره لوبے کولے[1].

بَاب جَوَازِ حَمْلِ الصِّبْيَانِ فِي الصَّلَاةِ وَ أَنَّ ثِيَابَهُمْ مَحْمُولَةٌ عَلٰى طَهَارَةٍ حَتّٰى يَتَحَقَّقَ نِجَاسَتُهَا وَأَنَّ الْفِعْلَ الْقَلِيلَ لَا يُبْطِلُ الصَّلٰوةَ وَكَذَا إِذَا فَرَّقَ الْأَفْعَالَ

باب: په مانځۀ کښې ماشومان اوچتول صحیح دی د هغوی جامے ترڅو پورے چه پلیتی ثابتے شی نۀ وی په پاکوالی به باروَلے شی او لږ عمل او جدا جدا عملونه مانځۀ لره نۀ باطله وی

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي وَهُوَ حَامِلٌ أُمَامَةَ بِنْتَ زَيْنَبَ بِنْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِأَبِي الْعَاصِ بْنِ الرَّبِيعِ فَإِذَا قَامَ حَمَلَهَا وَإِذَا

د ابو قتادهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونځ کولو او ابو امامهؓ لور د زینب یعنی خپلے نمسۍ لره چه د ابوالعاصؓ لور وه اوچته کړے وه. کله چه به هغه ﷺ اودریدو نو هغې لره به ئے اوچتوله او بیا چه به ئے کله سجده کوله نو په زمکه باندے به ئے کینوله[2].

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی دد ے حدیث نه معلومیږی چه بغیر د قسم ورکولو نه هم قسم خورله صحیح دی. هر کله چه څۀ لوئے امر وی یا مبالغه منظوره وی د څۀ خبر په صحت کښې او په حدیثو کښې داسے ډیر راغلی دی.

[2] امام نووی رحمه الله ویلی دی. دد ے حدیث نه ثابتیږی چه د هلکانو بدن او کپړه به پاکه گڼلے شی د کومے پورے چه په هغے باند ے د پلیتئ یقین نۀ وی. او په لږ عمل سره مونځ نۀ باطلیږی. او د امام شافعی رحمه الله مذهب دا دے چه د هلک یا جینئ یا د بل څۀ پاک ځناور په فرض یا نفل مانځۀ کښې اوچتول صحیح دی. او امام اومقتدی او ځانله مونځ کونکی د ټولو دپاره جائز دی. او مالکیه دد ے جواز د نفل مانځۀ سره خاص کړے دے. لیکن دا لغوه دے ولے چه پخپله د حدیث نه ثابته ده. چه هغه صلی الله علیه

سَجَدَ وَضَعَهَا قَالَ يَحْيَى قَالَ مَالِكٌ نَعَمْ

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ النَّاسَ وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ وَهِيَ ابْنَةُ زَيْنَبَ بِنْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَاتِقِهِ فَإِذَا رَكَعَ وَضَعَهَا وَإِذَا رَفَعَ مِنَ السُّجُودِ أَعَادَهَا

ابو قتاده انصاری نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ لره په امامت کولو اولیدو او امامه بنت ابوالعاص د هغهٔ په اوګه باندے وه. هر کله چه به هغه رکوع کوله نو هغے لره به ئے کینوله او کله چه به د سجدے نه رااوچت شو نو بیائے هغے لره په اوګه کینوله

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ يَقُولُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لِلنَّاسِ وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عُنُقِهِ فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَهَا

د ابوقتاده انصاری نه روایت دے وائی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدو چه هغه خلقو ته مونځ ورکولو او امامه بنت ابی العاص د هغهٔ په څټ باندے ناسته وه. هغهٔ ﷺ به کله سجده کوله نو هغه به ئے کینوله

بَاب جَوَازِ الْخُطْوَةِ وَالْخُطْوَتَيْنِ فِي الصَّلَاةِ وَأَنَّهُ لَا كَرَاهَةَ فِي ذَلِكَ إِذَا كَانَ لِحَاجَةٍ وَجَوَازِ صَلَوةِ الْإِمَامِ عَلَى مَوْضِعٍ أَرْفَعَ مِنَ الْمَأْمُومِينَ لِلْحَاجَةِ كَتَعْلِيمِهِمُ الصَّلَوةَ أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ

باب : په مانځهٔ کښ د ضرورت په وخت یو دوه قدمه تلل صحیح دی. او د څهٔ ضرورت په وخت د امام د مقتدیانو نه په اوچت ځائے اودریدل صحیح دی لکه د مانځهٔ تعلیم وغیره

عَنْ أَبِي حَازِمٍ أَنَّ نَفَرًا جَاءُوا إِلَى سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَدْ تَمَارَوْا فِي الْمِنْبَرِ مِنْ أَيِّ عُودٍ هُوَ فَقَالَ أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْرِفُ مِنْ أَيِّ عُودٍ هُوَ وَمَنْ عَمِلَهُ وَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ

د ابوحازم نه روایت دے چه څهٔ خلق د سهل بن سعد خواله راغلل او د ممبر په باره کښ په جګړه شو چه هغه د څهٔ لرګی وو. هغوی اووے. چه زهٔ پیژنم چه هغه د کوم لرګی وو. او چا هغے لره جوړ کړے وو. او ما اولیدو چه رسول الله ﷺ کله رومبے خل په هغے باندے کیناستو. ما اووے. اے ابوعباس مونږ ته

وسلم امام وو او امامه رضی الله عنه لره ئے اوچت کړے وو. خنو مالکیه ویلی دی چه دا حدیث منسوخ دے. بعضو ویلی دی چه د ضرورت په وجه سره داسے اوکړے شو مګر دا ټولے خبرے باطلے او رد کړے شوی دی. او د حدیث نه دا دے امر جواز ثابت دے چه د شرعیه قاعدو دا امر خلاف نهٔ دے. ولے چه بنده پاک دے. او د ماشوم بچی بدن او کپړو لره پاکے ګنړل پکار دی. د کومے پورے چه د هغے کپړو په پلیتئ باندے څهٔ دلیل قائم نهٔ وی. (انتهی مختصراً)

يَوْمٍ جَلَسَ عَلَيْهِ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا عَبَّاسٍ فَحَدِّثْنَا قَالَ أَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى امْرَأَةٍ قَالَ أَبُو حَازِمٍ إِنَّهُ لَيُسَمِّهَا يَوْمَئِذٍ انْظُرِي غُلَامَكِ النَّجَّارَ يَعْمَلْ لِي أَعْوَادًا أُكَلِّمُ النَّاسَ عَلَيْهَا فَعَمِلَ هٰذِهِ الثَّلَاثَ دَرَجَاتٍ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوُضِعَتْ هٰذَا الْمَوْضِعَ فَهِيَ مِنْ طَرْفَاءِ الْغَابَةِ وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَيْهِ فَكَبَّرَ وَكَبَّرَ النَّاسُ وَرَاءَهُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ رَفَعَ فَنَزَلَ الْقَهْقَرَى حَتَّى سَجَدَ فِي أَصْلِ الْمِنْبَرِ ثُمَّ عَادَ حَتَّى فَرَغَ مِنْ آخِرِ صَلَاتِهِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي صَنَعْتُ هٰذَا لِتَأْتَمُّوا بِي وَلِتَعَلَّمُوا صَلَاتِي

دا ټول حال بيا بيان کړه. هغوی اووے. چه رسول الله ﷺ يوے ښځے ته پيغام اوليږلو. او حازم وائي چه سهل بن سعد په دغه ورځ د هغے ښځے نو اخستلو چه ته خپل غلام لره چه ترکان دے دومره فرصت ورکړه چه څما دپاره څو لرګی جوړ کړی. زۀ په هغه لرګو باندے د خلقو سره خبرے کوم (يعنی وعظ نصيحت پر کوم) بيا هغه غلام د دريوو پوړو ممبر جوړ کړو. او رسول الله ﷺ حکم اوکړو. نو هغه په جماعت کښې په هغه ځائے کيښودے شو. د هغے لرګی د غابے د جهاؤ وو (غباه د مدينے يو اوچت ځائے دے) او ما اوليدل چه رسول الله ﷺ په هغے باندے اودريدو او تکبير ئے اووے خلقو هم د هغۀ نه روستو تکبير اووے او هغه په منبر باندے وو. بيا هغه د رکوع نه سر اوچت کړو او راکوز شو تردے پورے چه سجده ئے اوکړه د ممبر په ويخ کښې بيا واپس شو تردے پورے چه د مانځۀ نه فارغ شو. ددے نه پس هغه د خلقو په طرف متوجه شو. او اوئے فرمايل چه اے خلقو! ما داسے ددے دپاره اوکړو. چه تاسو څما پيروی کوئ. او څما په شان د مانځۀ کول ايزده کړئ[1].

بَابُ كَرَاهَةِ الْاِخْتِصَارِ فِي الصَّلَاةِ

باب: په مانځۀ کښې په ملا د لاس ايخودلو ممانعت

[1] يعنی زۀ په اوچت ځائے په دے واسطه اودريدم. چه تاسو ټولو ته ښکاره شم ګنی خنو خلقو زۀ نۀ شومه ليدلے. ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د ضرورت دپاره په مانځۀ کښې يو يا دوه قدمه وړاندے يا روستو ښی طرفته يا ګس طرفته کيدل صحيح دی. او په دے سره په مانځۀ کښې څۀ مکروه والے نۀ راځی او دا هم معلومه شوه چه کۀ په څۀ ضرورت سره امام په اوچت ځائے باندے اودريږی. او مقتدی په لاندے ځائے باندے وی نو څۀ قباحت نشته دے. علماؤ ويلی دی چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ممبر کښې درے پوړۍ وے. نو هغه دوه قدمه لاندے راکوز شو. او د ممبر په خواه باندے ئے سجده اوکړه. د ممبر د جوړولو غوره والے. د خطيب په ممبر باندے اودريدل او په څۀ بل اوچت ځائے باندے. په لږ عمل سره د مونځ نۀ فاسد کيدل ددے حديث نه ثابتيږی. اګر چه په لږ عمل مونځ نۀ ماتيږی. مګر بے لاضرورت مکروه دے. دغه شان ډير عمل کۀ څو خله وی نو مونځ نۀ ماتيږی ولے چه حضرت صلی الله عليه وسلم څو خله ممبر ته ختلے او کوز شوے دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے. چه رسول اللهﷺ په ملا باندے دلاس ايخودو سره د مونځ كولو نه منع كړے ده. او د ابوبكرؓ په روايت كښدى چه رسول اللهﷺ منع فرمايلے ده[1].

بَاب كَرَاهَةِ مَسْحِ الْحَصَى وَتَسْوِيَةِ التُّرَابِ فِي الصَّلَاةِ

باب : په مانځۀ كښې د ګټو لرے كولو او د خاورے برابرولو كراهت

عَنْ مُعَيْقِيبٍ قَالَ ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْحَ فِي الْمَسْجِدِ يَعْنِي الْحَصَى قَالَ إِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَوَاحِدَةً

د مُعيقيبؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ د ګټو د صفا كولو ذكر اوكړو. هغۀﷺ اوفرمايل كۀ ضرورت راغے نو يو ځل ئے صفا كړئ[2].

عَنْ مُعَيْقِيبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الرَّجُلِ يُسَوِّي التُّرَابَ حَيْثُ يَسْجُدُ قَالَ إِنْ كُنْتَ فَاعِلًا فَوَاحِدَةً

د مُعيقيبؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ دسجدے په ځائے باندے د خاورے برابرولو په باره كښې فرمايلي دي. كۀ ضرورت پريوځي نو يو ځل د (برابر) كړي.

بَاب النَّهْيِ عَنِ الْبُصَاقِ فِي الْمَسْجِدِ فِي الصَّلَاةِ وَغَيْرِهَا

باب : په جماعت كښې د تُوكلو ممانعت په مانځۀ كښې وى يا د مانځۀ نه بهر

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى بُصَاقًا فِي جِدَارِ الْقِبْلَةِ فَحَكَّهُ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَلَا يَبْصُقْ قِبَلَ وَجْهِهِ فَإِنَّ اللهَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے. چه رسول اللهﷺ د قبلے طرفته په ديوال باندے لاړے لګيدلے اوليدے (يعنى كلك بلغم) حضرت هغے لره اوربژه وو. بيائے خلقو ته مخ كړو او اوئے فرمايل كله چه څوك ستاسو نه مونځ كوى. نو خپلے مخے ته مۀ توكئ ولے چه اللهؓ

---

[1] په حديث كښې د مختصراً لفظ راغلے دے. چه د هغے معنى د اكثرو علماؤ په نز دغه ده چه په ملا باندے لاس كيښودل او خنو ويلى دى چه لرګے په لاس كښې واخلى په هغے باندے تكيه اووهى. او خنو ويلى دى چه د مختصراً معنى داده چه هر يو سورة نۀ لولوى د اول يا آخر نه څو ايتونه لولولى. او خنو ويلى دى چه د مانځۀ اركان په بنۀ شان سره ادا نۀ كړى او په قيام او ركوع او سجده دغه معنى ده كومه چه وړاندے ذكر شوه. او د هغے د ممانعت وجه داده. چه يهوديانو به داسے كول او خنو ويلى دى چه دا فعل يعنى دا كار د شيطان دے. او خنو ويلى دى چه ابليس د جنت نه په دے شان راكوز شوے وو. يعنى لاس ئے په تشى ايخودى وو. خنو ويلى دى چه مغروره خلق داسے كوى.

[2] او باربار داسے كول مكروه دى. خكه چه دا د ادب او تواضع نه خلاف دى.

قِبَلَ وَجْهِهِ إِذَا صَلَّى

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى نُخَامَةً فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَحَكَّهَا بِحَصَاةٍ ثُمَّ نَهَى أَنْ يَبْزُقَ الرَّجُلُ عَنْ يَمِينِهِ أَوْ أَمَامَهُ وَلَكِنْ يَبْزُقُ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى بُصَاقًا فِي جِدَارِ الْقِبْلَةِ أَوْ مُخَاطًا أَوْ نُخَامَةً فَحَكَّهُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى نُخَامَةً فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَأَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ مَا بَالُ أَحَدِكُمْ يَقُومُ مُسْتَقْبِلَ رَبِّهِ فَيَتَنَخَّعُ أَمَامَهُ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يُسْتَقْبَلَ فَيُتَنَخَّعَ فِي وَجْهِهِ فَإِذَا تَنَخَّعَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَنَخَّعْ عَنْ يَسَارِهِ تَحْتَ قَدَمِهِ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيَقُلْ هٰكَذَا وَوَصَفَ الْقَاسِمُ فَتَفَلَ فِي ثَوْبِهِ ثُمَّ مَسَحَ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ

دده مخے ته دے کله چه هغه مونځ ادا کوی[1].

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ په جماعت کښں د قبلے په طرف بلغم اولیدو. حضرتﷺ په یوه ګیټۍ سره هغه اوریژولو. بیائے بنی طرفته یا مخے طرفته د تُوکلو نه منع اوفرمایله او اوئے فرمایل چه ګس طرفته یائے د قدم لاندے تُوکی[2].

د اُمّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د قبلے په دیوال باندے بلغم یا خنړ اولیدۀ نو هغۀ هغے لره اوریژه وو.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول اللهﷺ په جماعت کښں د قبلے په طرف توکلے اولیدو. نو خلقو ته متوجه شو او اوئے فرمایل ستاسو څۀ حال دے چه ستاسو نه څوک د خپل پروردګار په طرف مخ کړی او اودریږی. بیا خپلے مخے ته تُوکل کوی. څکه ستاسو نه څوک دے خبرے لره غوره کوی چه څوک د هغۀ طرفته مخ کړی بیا د هغۀ په مخ اوتُوکی. کله چه ستاسو نه د چا بلغم راشی نو ګس طرفته ئے د قدم لاندے توکی کۀ ځائے نۀ وی نو داسے کوئ. قاسم چه دد دے حدیث راوی دے ویلی دی چه پخپله کپړه ئے توکی بیا هغه کپړه اومږی[3].

---

[1] بیا چه هر کله الله تعالی د مونځ کونکی مخے ته شو نو دغه طرفته توکل لویه بے ادبی او بے ادبی ده. نووی رحمه الله ویلی د د الله مخے ته کیدو نه دلته مراد دادے چه هغه د جهت مخے ته دے چا چه هغے لره لویه کړے ده (یعنی قبله) او بعضو ویلی دی. قبلة الله مراد دے یعنی قبله د الله مخے ته ده. او ځنو ویلی دی ثواب د هغے دلاندے به هم معاذ الله هغه وی. بیا دے خوا تُوکل به څنګه جائز شی د اهل سنت والجماعت مذهب دادے. چه الله تعالی د عرش دپاسه دے. او د هغۀ علم او قدرت هر ځائے دے. یعنی هغه دعرش نه هر یو څیز پیژنی وینی او په ټولو باندے اختیار لری.

[2] په دے حدیث سره په جمهیور د راغے. چه هغه قائل دی چه خدائے په هر ځائے او هر مکان کښں دے. او دلیل راوړی د ابن عمر رضی الله عنه د حدیث نه چه هغه اوس تیر شو چه الله د مونځ کونکی مخے ته دے. ولے کۀ چرے الله په هر ځائے او هر مکان کښں وے. نو بیا خو ګس طرفته او د قدم دلاندے به هم وی.

[3] دد دے حدیث نه معلومه شوه چه دومره قدرے عمل په مانځۀ کښں صحیح دے. او دا هم معلومه شوه چه لاړے یا بلغم یا خنړ دا ټول پاک دی او په دے کښں د چا اختلاف نشته. مګر خطابی رحمه الله د ابراهیم نخعی رحمه الله نه نقل کړی دی چه لاړے نجسے دی. او خما خیال دے چه دا روایت کوم چه د نخعی نه نقل دے صحیح نۀ دے. (نووی رحمه الله)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ هُشَيْمٍ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ ثَوْبَهُ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. لکه چه تیر شو. په دے کښې دومره زیات دے. چه ابوهریرهؓ اووے. چه لکه چه زهٔ رسول الله ﷺ لره وینم چه هغه کپړے الټه پلټه کوی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ فَلَا يَبْزُقَنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلَا عَنْ يَمِينِهِ وَلَكِنْ عَنْ شِمَالِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه رسول الله فرمایلی دی چه هرکله څوک ستاسو نه مونځ کوی نو لکه چه د خپل پروردګار سره په غوږ کښې خبره کوی، دومره نژدے والے په مانځهٔ کښې وی نو بنیٔ د زړهٔ د اخلاصه مونځ کول پکا ردی، څکه خپلے مخے ته او ښی طرفته مهٔ تُوکیٔ. لیکن ګس طرفته یا د قدم لاندے (توکی)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا

د انس بن مالکؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی په جماعت کښې تُوکل ګناه ده. او کفاره د هغے داده چه (کهٔ چرے او تُوکلے شی) نو په خاورو کښې ئے پټوی[1].

عَنْ شُعْبَةَ قَالَ سَأَلْتُ قَتَادَةَ عَنِ التَّفْلِ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ التَّفْلُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا

د شعبهؒ نه روایت دے چه ما د قتادهؒ نه تپوس اوکړو په جماعت کښې تُوکل څنګه دی؟ هغه اووے چه ما د انس بن مالکؓ نه اوریدلی دی. هغهٔ ویلی وو چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. هغهٔ فرمایلی وو چه په جماعت کښې تُوکل ګناه ده. او کفاره د هغے داده چه هغے لره په خاورو کښې پټ کړے[2].

عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا

د ابوذر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه ما ته څما د امت ښهٔ او بد عملونه راوړلے شول. نو ما د هغوی په نیکو کارونو

[1] دا هله ده چه د جماعت زمکه کچه وی. او کهٔ چرے زمکه پخه وی نو تُوکل به تر نه صفا کوی. څکه چه نورو مونځ کونکو ته تکلیف نهٔ وی.

[2] نووی رحمه الله ویلی دی چه په جماعت کښې تُوکل بالکل ګناه ده. کهٔ چری د تُوکلو ضرورت راشی نو پخپله کپړه دِ او تُوکی. کهٔ په جماعت کښې ئے او تُوکل نو ګنهګار شو اوس دد ے کفاره داده چه په خاورو کښې ئے پټ کړی. او کوم سړی چه دا ویلی دی چه تُوکل د هغه چا دپاره ګناه ده چه هغه هغے لره په خاورو کښې پټ نهٔ کړی نو هغه غلطی کړے ده.

فَوَجَدتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيقِ وَوَجَدتُ فِي مَسَاوِي أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ

کښې دا هم اوليدو. د لارې نه د ضرر رسونکي څيز (لکه ازغی، ګټه، پليتي وغيره) لرې کول او د هغوی په بدو اعمالو کښې ما اوليدل بلغم چه په جماعت کښې وی او دفن نه کړې شي[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ تَنَخَّعَ فَدَلَكَهَا بِنَعْلِهِ

د عبد الله بن شخير نه روايت دے چه ما د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو. هغهٔ اوتُوکل بيا ئې په خپل پيزار سره په زمکه باندې او مږل[2].

بَاب جَوَازِ الصَّلَاةِ فِي النَّعْلَيْنِ

باب: د پيزار په خپو د مونځ کولو بيان

عَنْ أَبِي مَسْلَمَةَ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي النَّعْلَيْنِ قَالَ نَعَمْ

د ابومسلمه سعيد بن يزيد نه روايت دے چه ما د انس بن مالک نه تپوس اوکړو. آيا رسول الله ﷺ به پيزار په خپو مونځ کولو. هغوی اووے آو[3].

بَاب كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ فِي ثَوْبٍ لَهُ أَعْلَامٌ

باب: په ګُل داره کپړه کښې مونځ کول مکروه دی

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلَامٌ وَقَالَ شَغَلَتْنِي أَعْلَامُ هَذِهِ فَاذْهَبُوا بِهَا إِلَى أَبِي جَهْمٍ وَأْتُونِي بِأَنْبِجَانِيِّهِ

د اُمُّ المؤمنين عائشې نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ په يو څادر کښې مونځ اوکړو چه په هغې باندې ښکلی بُوټی وو. او اوئې فرمايل څما زړهٔ په هغه نقشونو کښې پريوتو. دا ابوجهيم له يوسئ او ماله د هغهٔ وروکې څادر راوړئ[4].

---

[1] يعنی صفا نه کړې شي يا په خاورو کښې پټ نه کړې شي. ددې نه معلومه شوه چه يواخې توکلو والا به ګنهګار نه وی بلکه نور خوک چه هم په جماعت کښې دغه توکل اووينی او هغې لر دفن نه کړی. نو هغه به ورسره هم برابر ګنهګار وی.

[2] هغه وخت جماعت کچه وو نو په زمکه باندې مږل کافي وو. او کهٔ چرې جماعت پوخ وی نو صفا کول ضروري دی.

[3] نووی رحمه الله ويلی دی ددې حديث نه معلوميږی چه پيزار او موزې په خپو مونځ کول صحيح دی. د کومې پورې چه په هغې د پليتئ يقين نهٔ وی. کهٔ چرې د موزې دلاندې پليتي اولګی. نو صرف په زمکه باندې دهغې مږل يعنی رابنکودل د مانځهٔ دپاره پوره دی يا نهٔ دی په دې کښې دوه قولونه دی.

[4] ابوجهم دا د نقش ونګار څادر رسول الله ﷺ ته په تحفه کښې ورکړې وو. هغه قبول کړو. بيائې په مانځهٔ کښې ئې د هغې نقش ونګار ته فکر شو. او په خشوع او خضوع کښې خلل واقع شو. په دې واسطه حضرت هغې څادر لره واپس کړو. او د هغې په بدله کښې ئې د ابوجهم نه ساده کمبل رااوغوښتو. دد دپاهر چه ابوجهم خفه نهٔ شي. سُبحٰنَ الله چه د پيغمبر مونځ څومره په خلوص سره وی. چه د کوم څيز به ئې لر شان خيال هم په مانځهٔ کښې راتلو نو هغه څيز به ئې لرې کولو. نووی رحمه الله ويلی دی چه ددې حديث نه دا خبره ثابته شوه چه په

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي خَمِيصَةٍ ذَاتِ أَعْلَامٍ فَنَظَرَ إِلَى عَلَمِهَا فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ قَالَ اذْهَبُوا بِهَذِهِ الْخَمِيصَةِ إِلَى أَبِي جَهْمِ بْنِ حُذَيْفَةَ وَأْتُونِي بِأَنْبِجَانِيِّهِ فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا فِي صَلَاتِي

د اُمُّ المؤمنين عائشے٘ نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ يو څادر پسر کړے د مانځه د کولو دپاره اودريدو چه په هغے باندے نقش ونګار وو. حضرت ﷺ د هغے نخښنو ته کتل شروع کړل. هر کله چه مونځ اوشو. نو اوئے فرمايل. دے څادر لره ابوجهم بن حذيفه٘ له يوسئ او د هغه کمبل ما له راوړئ ولے چه دے څادر زۀ اوس د مانځۀ نه غافل کړم.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ خَمِيصَةٌ لَهَا عَلَمٌ فَكَانَ يَتَشَاغَلُ بِهَا فِي الصَّلَاةِ فَأَعْطَاهَا أَبَا جَهْمٍ وَأَخَذَ كِسَاءً لَهُ أَنْبِجَانِيًّا

د اُمُّ المؤمنين عائشے٘ نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ سره يو څادر وو. چه په هغے کښ د ګلونو په طرف به مشغوله کيدو. آخر هغۀ هغه څادر ابوجهم له ورکړو. او د هغۀ نه ئے ساده کمبل واخستو (چه په هغے باندے نقش ونګار نۀ وو)

بَاب كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ الَّذِي يُرِيدُ أَكْلَهُ فِي الْحَالِ وَ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ مَعَ مُدَافَعَةِ الْأَخْبَثَيْنِ

باب : کله چه خوراک مخکښ راشی او د هغے د خوړلو اراده وی نو بغير د خوړلو نه مونځ مکروه دے. او د وړوکی او لوئی اودسماتی د تقاضے په وخت هم مونځ کول مکروه دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا حَضَرَ الْعَشَاءُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ

د انس بن مالک٘ نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی. چه هر کله د ماښام غله مخے ته راوړے شی. او بل خواه مونځ تيار وی. نو ړومبئ غله خورئ.

مانځۀ کښ کمال حضور او خضوع لازم ده. او کوم څيز چه د زړۀ حضور لره مانع وی د هغے لرے کول پکار دی. د دے حديث نه دا هم ثابته شوه. چه د جماعت محراب يا د يوالونو لره ښائسته کول او په هغے باندے نقش ونګار کول مکروه دی. داسے نۀ وی چه په مانځۀ کښ د دغه څيزونو په طرف خيال راشی. او دا هم معلومه شوه چه په مانځۀ کښ څۀ بل خيال راشی نو مونځ کيږی. او په دے باندے د فقهاؤ اجماع ده. ليکن د خنو سلفو او اصحاب زُهد نه منقول دے چه مونځ صحيح نۀ دے زمونږ د ملګرو په نز په مانځۀ کښ د سجدے٘ ځائے ته کتل پکار دی او بل طرفته نظر کول نۀ دی پکار او خنو ويلی دی چه سترګے پټول مکروه دی. او خما په نز ئے د کراهت څۀ وجه نشته دے مګر هله چه د نقصان يره وی. (انتهیٰ مختصراً)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قُرِّبَ الْعَشَاءُ وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُوا بِهِ قَبْلَ أَنْ تُصَلُّوا صَلَاةَ الْمَغْرِبِ وَلَا تَعْجَلُوا عَنْ عَشَائِكُمْ

د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي. کله چه د مانځۀ وخت نژدے راشي. او ډوډۍ هم مخے ته راوړے شي. نو د ماښام د مانځۀ نه وړاندے ډوډۍ خورئ. ډوډۍ پريخودل د مانځۀ په طرف جلدي مۀ کوئ (ځکه چه د غلے خوراک په طرف به مو زړۀ لګيدلے وي)

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَنَسٍ

د اُمُّ المؤمنين عائشے نه روايت دے. د نبي کريم ﷺ نه پشان د حديث ابن عيونه عن الزهري عَنْ اَنَسٍ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلَنَّ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي هر کله چه ستاسو نه د چا په مخکښ د ماښام طعام کيښودے شي. بل طرف مونځ وي نو مخکښ طعام خورئ او د مانځۀ دپاره جلدي مکوئ د کومے پورې چه د خوراک نه فارغ شوی نه يئ.

عَنِ ابْنِ أَبِي عَتِيقٍ قَالَ تَحَدَّثْتُ أَنَا وَالْقَاسِمُ عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حَدِيثًا وَكَانَ الْقَاسِمُ رَجُلًا لَحَّانَةً وَكَانَ لِأُمِّ وَلَدٍ فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ مَا لَكَ لَا تَحَدَّثُ كَمَا يَتَحَدَّثُ ابْنُ أَخِي هَذَا أَمَا إِنِّي قَدْ عَلِمْتُ مِنْ أَيْنَ أُتِيتَ هَذَا أَدَّبَتْهُ أُمُّهُ وَأَنْتَ أَدَّبَتْكَ أُمُّكَ قَالَ فَغَضِبَ الْقَاسِمُ وَأَضَبَّ عَلَيْهَا فَلَمَّا رَأَى مَائِدَةَ عَائِشَةَ قَدْ أُتِيَ بِهَا قَامَ قَالَتْ أَيْنَ قَالَ أُصَلِّي قَالَتِ اجْلِسْ قَالَ إِنِّي أُصَلِّي قَالَتِ اجْلِسْ غُدَرُ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابن عتيق نه روايت دے. چه ما او قاسم بن محمد بن ابي بکر صديق (د حضرت عائشے وراره) يو حديث بيانول شروع کړو. او قاسم بن محمد بن غلطي ډيره کوله او د هغوی مور اُمّ ولد وه (يعنی هغه د وينځے لوره وه). حضرت عائشے هغۀ ته اووے قاسم ته څۀ اوشو. تۀ ددے وراره (يعنی ابن عتيق) په شان خبرے نۀ کوے. البته زۀ پوهه يم چه تۀ د کوم ځائے نه راغلے. هغۀ ته د هغۀ مور تعليم کړے دے. (او هغه آزاده وه وه نو د هغے هلک هم ښۀ هوښيار شولو) او تا له ستا مور (چه هغه د وينځے لور وه آخر د وينځے اثر چرته ځي) ددے په اوريدو قاسم ته غصه راغله او په حضرت عائشے باندے ئے غصه اوکړه. هر کله چه هغه اوليدل چه د حضرت عائشے دپاره دسترخوان خور کړے شو نو هغه پاڅيدو. حضرت عائشے ترنه تپوس اوکړي چرته ځے؟ قاسم اووے مانځۀ له ځم حضرت عائشے اووے کينه! هغۀ اووے مانځۀ له ځم حضرت عائشے

وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ

اووے. اے بے وفا کینه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو. مونځ نهٔ کول پکار روسته کول دی کله چه غله مخکښې راوړے شی. یا لویو بولو یا ورو بولو ته حاجت راغلے وی[1].

بَاب نَهْيِ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا أَوْ كُرَّاثًا أَوْ نَحْوَهَا مِمَّا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ عَنْ حُضُورِ الْمَسْجِدِ حَتَّى تَذْهَبَ تِلْكَ الرِّيحُ وَإِخْرَاجِهِ مِنَ الْمَسْجِدِ

باب: اوګه، پیاز، اوګندنه یا بل څۀ بدبودار څیز خوړلو سره جماعت ته تلل تر هغه وخته پورے منع دی ترڅو پورے چه د هغے بوئی د خلے نه لاړ نشی او هغے لره د جماعت نه ویستل

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي غَزْوَةِ خَيْبَرَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ يَعْنِي الثُّومَ فَلَا يَأْتِيَنَّ الْمَسَاجِدَ قَالَ زُهَيْرٌ فِي غَزْوَةٍ وَلَمْ يَذْكُرْ خَيْبَرَ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمایل. د خیبر په جنګ کښې چه کوم سړی د دے اونے نه اوخوړه. یعنی د اوګے نه. نو هغه به جماعت ته نۀ راځی. او د زهیر په روایت کښې صرف غزا ده د خیبر نوم ئے نۀ دے اخستے[2].

---

[1] حضرت عائشے رضی الله عنها قاسم ته بے وفا خکه اووے. چه په لړه شان خبره هغه خفه شو. او دائے نۀ ګنړله چه حضرت عائشه رضی الله عنها اول خو د تولو مؤمنانو مور او د تولو په تر واجب التعظیم ده. او د قاسم خو سکه ترور او د هغۀ د پلار محمد رضی الله عنه د وژلے کیدو نه پس حضرت عائشے رضی الله عنها هغۀ لره پاللے وو. بیا د کوم بنده د پاره چه داسے احسان وی. او د هغۀ خپل مشر وی د هغۀ خبره بده ګنړل او خاصکر دا چه هر کله هغه خبره رښتیا وی د کمال درجے ناشکری او بے وفائی ده.

نووی رحمه الله ویلی دی چه د دے حدیثونو نه دا ثابتیږی. چه هر کله طعام مخکښې راوړے شی نو مونځ کول مکروه دی. د هغه بنده د پاره چه هغه د خوراک اراده لری. ولے چه کۀ د خوراک نه مخکښې مونځ کوی نو کیدے شی چه په مانځۀ کښې ورته د خوراک خیال راشی. او زړۀ ئے او نۀ لګی. دغه شان څۀ وخت چه د ورو بولو یا د لویو بولو حاجت شی. او دا مکروه والے هغه وخت دے کله چه په وخت کښې ګنجائش وی. کۀ چرے وخت تنګ وی او دا خیال وی چه کۀ چرے غله خوری یا استنجا کوی نو د مانځۀ وخت به لاړ شی نو مونځ د اوکړی.او زمونږ د بعضے ملګرو نه دا منقول ده چه په داسے حالت کښې د هم مونځ نۀ کوی. بلکه د خوراک او استنجاء نه چه فارغ شی نو مونځ د اوکړی اګر کۀ وخت تلے وی. خکه چه مقصود د مانځۀ سره د زړۀ لګیدل دی. هر کله چه زړۀ نۀ وی لګیدلے نو څۀ فائده او کۀ چرے په وخت کښې ګنجائش وی. لیکن مونځ ادا کړی خو مکروه دے اګر کۀ صحیح شی. او د اهل ظاهر نه نقل کړے شوے دے چه مونځ به صحیح نۀ وی. (نووی رحمه الله)

[2] نووی رحمه الله ویلی دی د دے حدیث نه معلومیږی چه دا ممانعت د هر جماعت د پاره دے. او قاضی عیاض د بعضے علماؤ نه نقل کړے دے. چه خاص مسجد نبوی ته د تلو نه ممانعت دے. او دا ممانعت جماعت ته د تلو نه دے. نۀ د پیاز او د اوګے د خوراک

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسَاجِدَنَا حَتَّى يَذْهَبَ رِيحُهَا يَعْنِي الثُّومَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ فرمایلي دي څوک چه ددے اوبنے نه خوری یعنی د اوگے د اوبنے نه هغه د زمونږ جماعت ته نه نږدے کیږی د کومے پورے چه د هغے بدبوئی لرے شوے نه وی.

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَهُوَ ابْنُ صُهَيْبٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ عَنِ الثُّومِ فَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّا وَلَا يُصَلِّي مَعَنَا

د عبد العزیز بن صهیب نه روایت دے. چه د انسؓ نه د اوگے په باره کښں تپوس اوکړے شو. هغوی اووے. رسول اللهﷺ فرمایلي دی. کوم بنده چه ددے بوټی نه خوری هغه د زمونږ خواله نه راځی او نه د زمونږ سره مونځ کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا وَلَا يُؤْذِيَنَّا بِرِيحِ الثُّومِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ فرمایلي دی. کوم بنده چه ددے اوبنے نه اوخوری. هغه د زمونږ جماعت ته نږدے نه راځی او نه د مونږ د اوگے په بوئ تنگوی.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْبَصَلِ وَالْكُرَّاثِ فَغَلَبَتْنَا الْحَاجَةُ فَأَكَلْنَا مِنْهَا فَقَالَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ الْإِنْسُ

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د پیازو او اوگندنے خوړلو نه منع کړے ده. بیا مونږ ته ضرورت راغے نو مونږ اوخوړل. نو هغهﷺ اوفرمایل څوک چه د دغے بدبودارے اوبنے نه خوری هغه د زمونږ د جماعت خواله نه راځی. ځکه چه فرښتو ته هم تکلیف وی د کومے نه چه بنیادمو ته تکلیف وی[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ وَفِي رِوَايَةِ حَرْمَلَةَ وَزَعَمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلي دی. کوم سړے چه پیاز یا اوگه اوخوی. هغه د زمونږ نه جدا اوسی یا زمونږ د جماعت نه د جدا اوسی. او په خپل کور کښں د کیښني. یو ځل حضورﷺ ته یوه کتوئ

نه ولے چه د پیازو او اوگی خوړل په اجماع د علماؤ صحیح دی. او قاضی عیاض رحمه الله د بعضے علماؤ نه ددے حرام والے نقل کړے دے. ځکه چه هغه منع کونکی دی په جماعت کښں د شرکت د کولو نه. او جماعت ته راتلل د هغوی په نز فرض عین دی. او قیاس کړی دی علماؤ په پیاز او اوگه باندے هر بدبویه څیز لره. او په جماعت باندے هر مجلس د علم او عبادت لره.

[1] یعنی د بدبودار څیز په استعمال سره نه صرف بنیادم خفه کیږی بلکه فرښتو ته هم بدبوئ ناخوښه وی. او هغوی ته تکلیف کیږی. کله چه د پیازو او د اوگے د بوئ دا حال دے. نو د بدبویه تمباکو په استعمال سره هم د فرښتو نفرت وی. ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه کۀ چرے جماعت د نورو مونځ کونکو نه خالی وی. بیا به هم ددے څیزونو د استعمال سره جماعت ته نۀ ځی ځکه چه هلته فرښتے موجودے وی.

فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ وَإِنَّهُ أُتِيَ بِقِدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنْ بُقُولٍ فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا فَسَأَلَ فَأُخْبِرَ بِمَا فِيهَا مِنَ الْبُقُولِ فَقَالَ قَرِّبُوهَا إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ فَلَمَّا رَآهُ كَرِهَ أَكْلَهَا قَالَ كُلْ فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لَا تُنَاجِي

راواوړلے شوه. چه په هغې کښې ترکارياني وے حضرت ﷺ په هغې کښې بدبوئي اوموندله نو تپوس ئے اوکړو په دے کښې څۀ پراته دي؟ کله چه هغه ته معلومه شوه. نو هغۀ اوفرمايل دا فلاني صحابي له ورسئ: هر کله چه هغۀ اوليدل چه هغه هم د هغې غله بده اوګڼړله (ځکه چه رسول الله ﷺ اونۀ خوړه) حضرت ﷺ اوفرمايل ته اوخوره زۀ خو د هغوی سره په غوږ کښې پټه خبره کوم چه هغه ته نۀ شے کولے (يعنی د فرښتو سره).

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ الثُّومِ و قَالَ مَرَّةً مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَالْكُرَّاثَ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ

د جابربن عبد الله رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دی د کوم بنده چه پياز يا اوګه يا اوګندنه اوخوری هغه دِ زمونږ جماعت ته نۀ راځی. ځکه چه فرښتو ته تکليف وی د هغه څيزونو نه چه د هغې نه بنيادموته تکليف وی (يعنی په بدبوئ او په ګندګئ)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ لَمْ نَعْدُ أَنْ فُتِحَتْ خَيْبَرُ فَوَقَعْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي تِلْكَ الْبَقْلَةِ الثُّومِ وَالنَّاسُ جِيَاعٌ فَأَكَلْنَا مِنْهَا أَكْلًا شَدِيدًا ثُمَّ رُحْنَا إِلَى الْمَسْجِدِ فَوَجَدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرِّيحَ فَقَالَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ الْخَبِيثَةِ شَيْئًا فَلَا يَقْرَبَنَّا فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ النَّاسُ حُرِّمَتْ حُرِّمَتْ فَبَلَغَ ذَاكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَيْسَ بِي تَحْرِيمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لِي وَلَكِنَّهَا شَجَرَةٌ أَكْرَهُ رِيحَهَا

د ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دے چه مونږ واپس شوی نۀ وو چه د خيبر قلعه فتح شوه. په دغه ورځ مونږ خلق يعنی د رسول الله ﷺ صحابه په اوګه پريوتل. خلق اوږی وو ښۀ ئے اوخوړل بيا جماعت ته رالو نو رسول الله ﷺ ته بوئی معلوم شو نو هغوی اوفرمايل. کوم سړے چه دد ے ناپاکے اونے نه اوخوری هغه دِ جماعت ته زمونږ خواله نۀ راځی. خلقو اووے چه اوګه حرامه شوه. دا خبر رسول الله ﷺ ته اورسيدۀ. هغوی اوفرمايل. اے خلقو! زۀ هغه شے نۀ حرام وم کوم څيز چه الله تعالی ماله حلال کړے دے. ليکن د اوګے بوئی په ما بد لګی.[1]

[1] نووی رحمه الله ويلی دی دد ے حديث نه معلوميږی چه اوګه حرامه نۀ ده. او په دے باندے د عالمانو اجماع ده. اوس په دے کښې اختلاف دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم لره د هغے خوړل صحيح وو يا نۀ. او د ظاهر حديث نه دا معلوميږی چه صحيح وو. خو هغۀ ته د هغې د بدبوئ نه نفرت وو. په دے وجه ئے نۀ خوړله.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى زَرَّاعَةِ بَصَلٍ هُوَ وَأَصْحَابُهُ فَنَزَلَ نَاسٌ مِنْهُمْ فَأَكَلُوا مِنْهُ وَلَمْ يَأْكُلْ آخَرُونَ فَرُحْنَا إِلَيْهِ فَدَعَا الَّذِينَ لَمْ يَأْكُلُوا الْبَصَلَ وَأَخَّرَ الْآخَرِينَ حَتَّى ذَهَبَ رِيحُهَا

د ابوسعید خدری رض نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ د خپلو صحابو سره د پیازو په پټی تیر شو. بعض خلق ورکوز شو هغوی پیاز اوخوړل او بعضو اونهٔ خوړل بیا مونږ هغهٔ خواله لاړو نو کومو خلقو چه پیاز نهٔ وو خوړلی هغوی لره خو هغهٔ رااوغوختل او کومو چه خوړلی وو هغوی څهٔ وخت تیر کړو. تر دے پورے چه هغه بوئی تر نه ختم شو.

عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ خَطَبَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَذَكَرَ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ أَبَا بَكْرٍ قَالَ إِنِّي رَأَيْتُ كَأَنَّ دِيكًا نَقَرَنِي ثَلَاثَ نَقَرَاتٍ وَإِنِّي لَا أُرَاهُ إِلَّا حُضُورَ أَجَلِي وَإِنَّ أَقْوَامًا يَأْمُرُونَنِي أَنْ أَسْتَخْلِفَ وَإِنَّ اللهَ لَمْ يَكُنْ لِيُضَيِّعَ دِينَهُ وَلَا خِلَافَتَهُ وَلَا الَّذِي بَعَثَ بِهِ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنْ عَجِلَ بِي أَمْرٌ فَالْخِلَافَةُ شُورَى بَيْنَ هَؤُلَاءِ السِّتَّةِ الَّذِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ وَإِنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ أَقْوَامًا يَطْعَنُونَ فِي هَذَا الْأَمْرِ أَنَا ضَرَبْتُهُمْ بِيَدِي هَذِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ فَعَلُوا ذَلِكَ فَأُولَئِكَ أَعْدَاءُ اللهِ الْكَفَرَةُ الضُّلَّالُ ثُمَّ إِنِّي لَا أَدَعُ بَعْدِي شَيْئًا أَهَمَّ عِنْدِي مِنَ الْكَلَالَةِ مَا رَاجَعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَيْءٍ مَا رَاجَعْتُهُ فِي الْكَلَالَةِ وَمَا أَغْلَظَ لِي فِي شَيْءٍ مَا أَغْلَظَ

د معدان بن ابی طلحه رض نه روایت دے چه حضرت عمر رض د جمعے په ورځ خطبه اولوسته او د رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر رض ذکر ئے اوکړو. او اوئے ویل. چه یو مارغهٔ زهٔ درے ټونګے اووهلم. زهٔ پوهیږم چه دد ے تعبیر داد ے چه ځما مرګ اوس نږدے دے. ځنے خلق ماته دا وائی. چه تهٔ خپل جانشین او خلیفه چا لره جوړ کړه لیکن الله تعالی خپل دین لره نهٔ بربادوی نهٔ خلافت لره. نهٔ هغه څیز لره چه هغهٔ ئے رسول الله ﷺ ته ورکړے او رالیږلے ئے وو. کهٔ چرے ځما مرګ زر راشی نو خلافت به په مشوره باندے د شپږو سړو دته پاتے وی. چه د هغوی نه رسول الله ﷺ د وفاته پورے راضی وو. او زهٔ پیژنم چه بعضے خلق طعن لګوی په ما په دے کار کښ چه هغهٔ لره ما پخپله په خپل لاس وهلے دے په اسلام. بیا کهٔ چرے هغوی داسے اوکړل (یعنی دا طعن ئے صحیح اوګڼړلو) نو هغه دشمنان دی د الله تعالی او کافر ګمراه دی. او ما د خپل ځان نه پس دومره مشکل څهٔ څیز نهٔ دے پریخودے لکه د کلاله اومره. ما د رسول الله ﷺ نه یوے خبرے لره دومره نهٔ ده تپوس کړے څومره خله چه م تر نه د "کلاله" تپوس کړے دے. او هغه هم په ما باندے په څهٔ خبره کښ دومره سختی نهٔ ده کړے څومره چه ئے په دے پورے چه هغه پخپله ګوته سره سکوندګ راکړو ځما په سینه کښ. او اوئے فرمایل. اے عمره ولے تا لره هغه ایت بس نهٔ دے چه هغه نازل شوے دے د

لِي فِيهِ حَتَّى طَعَنَ بِإِصْبَعِهِ فِي صَدْرِي فَقَالَ يَا عُمَرُ أَلَا تَكْفِيكَ آيَةُ الصَّيْفِ الَّتِي فِي آخِرِ سُورَةِ النِّسَاءِ وَإِنِّي إِنْ أَعِشْ أَقْضِ فِيهَا بِقَضِيَّةٍ يَقْضِي بِهَا مَنْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَمَنْ لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أُشْهِدُكَ عَلَى أُمَرَاءِ الْأَمْصَارِ وَإِنِّي إِنَّمَا بَعَثْتُهُمْ عَلَيْهِمْ لِيَعْدِلُوا عَلَيْهِمْ وَلِيُعَلِّمُوا النَّاسَ دِينَهُمْ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَقْسِمُوا فِيهِمْ فَيْئَهُمْ وَيَرْفَعُوا إِلَيَّ مَا أَشْكَلَ عَلَيْهِمْ مِنْ أَمْرِهِمْ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ تَأْكُلُونَ شَجَرَتَيْنِ لَا أَرَاهُمَا إِلَّا خَبِيثَتَيْنِ هَذَا الْبَصَلَ وَالثُّومَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَجَدَ رِيحَهُمَا مِنَ الرَّجُلِ فِي الْمَسْجِدِ أَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ إِلَى الْبَقِيعِ فَمَنْ أَكَلَهُمَا فَلْيُمِتْهُمَا طَبْخًا

ګرمۍ په موسم کښې د سورة نسآء په آخر کښې. وَيَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ د اٰخره پورې. او که چرې زۀ ژوندې ومه نو په کلاله کښې به داسې فيصله کوم. چه د هغې موافق هر سړے حکم کوی خواه قرآن ئې لوستلے وی يا نه. بيا حضرت عمرؓ اووے يا الله! زۀ تا له ګواه کوم په هغه خلقو باندې چه هغوی له ما د ملکونو حکومت ورکړے دے (يعنی په نائبانو، او صوبه دارانو، او عالمانو باندې) ما خو هغوی له د دې دپاره ليږلی دی. چه هغه انصاف کوی. او خلقو ته د دين خبرې ښائی. او د خپل پيغمبر ﷺ طريقه ښائی. او د هغوی ګټلے شوے مال کوم چه په جنګ کښې په لاس راشی هغه پرې تقسيموی. او په کومه خبره کښې چه ورته مشکل مخکښې راشی. د هغې به ځما نه تپوس کوی. بيا اے خلقو! زۀ وينم چه تاسو دوو اونو له خورئ او زۀ هغې له ناپاک ګڼړم هغه څۀ؟ پياز او اوګه او ما رسول الله ﷺ له ليدلے دے چه د دې دواړو بوئ به د چا سړی نه راغے. نو د هغۀ په حکم سره به هغه ويستلے کيدو د جماعت نه د بقيع په طرف اوس که چرې څوک دے له خوری نو ښۀ د ئې پخوی (د دې دپاره چه د هغوی په خلۀ کښې بوئ نه کوی)[1].

[1] که چرې ما له مرګ زر راشی. نو په مشوره باندې به خلافت د شپږو سړو په مينځ کښې پاتې شی. يعنی خلق به مشوره اوکړی او د دغه شپږو سړو نه به چه کوم يو غواړی يو خليفه کړی. هغه شپږ سړی دا وو. عثمان، علی، طلحه، زبير، سعد بن ابی وقاص او عبد الرحمن بن عوف، او سعيد بن زيد رضی الله عنهم هم اګر چه د عشره مبشره نه وو. ليکن حضرت عمر رضی الله عنه د خپلولۍ په وجه د هغه نوم نۀ اخستلو.

زۀ د خانه پس څۀ څيز له دومره مشکل نه پريږدم څونه چه کلاله. کلاله هغه سړے دے چه هغه مړ شی. او د هغۀ نۀ اولاد پاتې شی نه پلار مور.

اوس که چرې څوک پياز اوګه خوری. نو ښۀ د ئې پخوی او خوری دې. (د دې دپاره چه په خله کښې بدبوئ پاتې نۀ شی) د دې حديث نه اګر چه د پياز اباحت وتلے دے مګر د کچه پياز او اوګې کراهت ترهم وتلے دے. ولې چه په کچه کښې بوئ زيات وی. بيا چه هر

بَابُ النَّهْيِ عَنْ نَشْدِ الضَّالَّةِ فِي الْمَسْجِدِ وَمَا يَقُولُهُ مَنْ سَمِعَ النَّاشِدَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمِعَ رَجُلًا يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ لَا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا

عَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَجُلًا نَشَدَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ مَنْ دَعَا إِلَى الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وَجَدْتَ إِنَّمَا بُنِيَتِ الْمَسَاجِدُ لِمَا بُنِيَتْ لَهُ

عَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا صَلَّى قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ مَنْ دَعَا إِلَى الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وَجَدْتَ إِنَّمَا بُنِيَتِ الْمَسَاجِدُ لِمَا بُنِيَتْ لَهُ

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ بَعْدَ مَا صَلَّى النَّبِيُّ

باب: په جماعت کښې د ورک شوی څيز د لټون ممانعت او د لټونکی په جواب کښې به اوريدونکے څۀ وائی

د ابوهريرة ؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرماولی دی. کوم سړی چه د چا نه د ورک شوی څيز په جماعت کښې لټون کول واوريدل (يعنی هغه په خپل اوچت آواز سره د خپل څيز د موندو دپاره خلقو ته آواز اوکړو) پس ته وايه خدائے د، کړی چه ستا څيز ملاؤ نۀ شی. ځکه چه جماعتونه ددے دپاره نۀ دی جوړ شوی[1].

د بريده ؓ نه روايت دے چه يو سړی په جماعت کښې آواز اوکړو او اوئے ويل د سور اوښ په طرف چا آواز اوکړو. نو رسول الله ﷺ اوفرمايل خدائے د کړی چه تاته بالکل ملاؤ نۀ شی. جماعتونه چه د کومو کارونو دپاره جوړ دی دهغے دپاره جوړ دی[2].

د بريده ؓ نه روايت دے چه هر کله رسول الله ﷺ مونځ اوکړو نو يو سړے اودريدو او اوئے ويل چا آواز اوکړو د سور اوښ حضرت اوفرمايل ستا اوښ د ملاؤ نۀ شی. جماعتونه چه د کومو کارونو دپاره جوړ دی د هغے دپاره جوړ دی.

د بريده ؓ نه روايت دے. چه يو د بانډے اوسيدونکے راغے هغه وخت

کله د پياز او د اوګے دا حال شو. نو تمباکو خوړل يا چته يا چيلم څکل يا څۀ بل بدبويه څيز استعمال او جماعت ته راتلل به ګرور مکروه وی. کۀ چرے خله بنۀ پاکه او صفا کړی نو بيا څۀ قباحت نشته.

[1] چه خلق په هغے کښې خپل ورک شوی څيزونه لټون کوی. يا اخستل خرڅول يا ددنيا نور معاملات کول.

[2] په هغے کښې بل کار کول نۀ دی پکار. ددے حديث نه معلومه شوه. چه په جماعت کښې اوچت آواز کول مکروه دی. ليکن ابوحنيفه د علم او د خصومت دپاره جائز کړی دی. او جماعتونه چه د کومو کارونو دپاره جوړ دی هغه دادی. ذکر د الهی، مونځ او ددين علم او ذکر خير قاضی عياض ويلی دی ددی نه صفا معلوميږی. چه په جماعت کښې دنياوی کار لکه ګنډل وغيره منع دی. او خنو ماشومانوته د لوستو نه هم په جماعت کښې منع کړے ده. او زمونږ ملګرو ويلی دی چه په جماعت کښې ددنيا هغه کار منع دے چه په هغے سره خاص خاص خلقو ته فائده وی. ليکن عام د نفع کار لکه پوره کول د اسبابو او سامان د جهاد وغيره نو هغه صحيح دی. (نووی رحمه الله)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْفَجْرِ فَأَدْخَلَ رَأْسَهُ مِنْ بَابِ الْمَسْجِدِ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا

رسول الله ﷺ د سحر مونځ کولو. نو هغهٔ خپل سر د جماعت د دروازے نه دننه کړو. بیائے دغه شان بیان اوکړو لکه چه پورته تیر شو.

بَابُ السَّهْوِ فِي الصَّلَاةِ وَالسُّجُودِ لَهُ

باب: په مانځهٔ کښې د هیریدو او د سجده سهوے بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَلَبَسَ عَلَيْهِ حَتَّى لَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى فَإِذَا وَجَدَ ذَلِكَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. ستاسو نه چه هر کله څوک مونځ کوی. نو شیطان د هیرولو دپاره د هغهٔ خواله راځی. تردے پورے چه هغهٔ ته یاد نهٔ وی چه څومره رکعتونه ئے اوکړل. هر کله چه داسے وی نو په ناستے ناستے دوه سجدے کوی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا نُودِيَ بِالْأَذَانِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ الْأَذَانَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمایلی دی. کله چه اذان کیږی نو شیطان ورت شا کړی او په منډه اوتښتی باد ترینه روان وی. ددے دپاره چه اذان وانهٔ وری. بیا خه کله اذان ختم شی نو راشی. کله

[1] امام ابوعبد الله مازری رحمه الله ویلی دی چه د سهوی په باب کښې پنځهٔ حدیثونه راغلی دی. یو خو دغه حدیث د ابوهریره رضی الله عنه دے. په دے کښې دادی. چه هر کله د مانځهٔ په رکعتونو کښې شک شی چه څومره ئے اوکړل نو دوه سجدے به کوی. لیکن دا بیان ئے نهٔ دے کړے چه دوه سجدے به کله کوی د سلام نه مخکښې یا د سلام نه پس. یو حدیث د ابوسعید رضی الله عنه دے. په هغے کښې دادی. چه د سلام نه مخکښې به دوه سجدے کوی. یو حدیث د ابن مسعود رضی الله عنه دے. چه په هغے کښې د پنځم رکعت دپاره اودریدل او د سلام نه پس سجده کول ذکر دی. یو حدیث د ذوليدين دے. چه په هغے کښې د دوو رکعتو نه پس په هیره سره سلام گرځول او خبرے کول او روستو د سلام نه سجده سهوه منقول ده. یو حدیث د ابن بحینه رضی الله عنه دے. په هغے کښې د دوو رکعتونه پس د اودریدو. او د سلام نه مخکښې د سجده سهوے بیان دے. اوس علماؤ په دغه احادیثو باندے په عمل کولو کښې اختلاف کړے دے. داؤد ظاهری رحمه الله ویلی دی په دے باندے قیاس صحیح نهٔ دے. او په هر یو حدیث باندے لکه چه وارد دے دغه شان عمل کول پکار دی. امام احمدؒ هم د داؤد رحمه الله سره دے. په هغه خاص مونځونو کښې چه د هغے ذکر په دی حدیثونو کښې دی. او په باقی مونځونو کښې د هغوی په نیز د سلام نه مخکښې سجده کول پکار دی. بیا چه کومو خلقو په قیاس باندے عمل کړے دے. د هغوی نه بعضے دا وائی چه مونځ کونکی ته اختیار دے. کهٔ غواړی د سلام نه پس دِ سجده اوکړی یا کهٔ غواړی د سلام نه مخکښې دِ سجده اوکړی. او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به همیشه د سلام نه پس سجده کوی. او د شافعی رحمه الله په نیز به همیشه د سلام نه مخکښې سجده کوی. او د امام مالک رحمه الله په نیز کچرے په هیره سره په مانځهٔ کښې څهٔ زیاتے راشی. نو د سلام گرځولو نه پس به سجده کوی. او کهٔ چرے کمے راشی نو مخکښې به سجده کوی. او د ټولو نه قوی مذهب د امام مالک رحمه الله دے. بیا د شافعی رحمه الله. لیکن د امام مالک رحمه الله په مذهب باندے کهٔ چرے دوه سهوے راغلی وی. په یوے سره زیاتے شوے وی او په بله سره کمے نو د سلام نه مخکښې به سجده کوی. او دا اختلاف په غوره والی کښې دے نهٔ په جواز کښې. او د دوو یا دریوو سهوو دپاره دوه سجدے پوره دی. او په دے باندے د علماؤ اتفاق دے. (نووی رحمه الله)

فَإِذَا قُضِيَ الْأَذَانُ أَقْبَلَ فَإِذَا ثُوِّبَ بِهَا أَدْبَرَ فَإِذَا قُضِيَ التَّثْوِيبُ أَقْبَلَ يَخْطُرُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ يَقُولُ اذْكُرْ كَذَا اذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ إِنْ يَدْرِي كَمْ صَلَّى فَإِذَا لَمْ يَدْرِ أَحَدُكُمْ كَمْ صَلَّى فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ

چه تکبیر کیږي نو بیا اوتښتي. او بیا چه تکبیر اوشي نو واپس راشي. او د مونځ کونکي په زړهٔ کښې وسوسے غورځوي وائي هغه خبره یاده کړه، دا خبره یاده کړه. هغه هغه خبرے یاده وي چه هغه چرته نهٔ یادیږي ترد ے پورے چه د هغهٔ هیر شو چه څومره رکعتونه ئے اوکړل بیا چه هر کله ستاسو نه چا ته یاد نهٔ وي چه څومره رکعتونه اوشول نو هغه دِ په ناستے ناستے دوه سجدے اوکړي[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ وَلَّى وَلَهُ ضُرَاطٌ فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَزَادَ فَهَنَّاهُ وَمَنَّاهُ وَذَكَّرَهُ مِنْ حَاجَاتِهِ مَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت د ے. رسول الله ﷺ فرمایلي دي . هر کله چه اذان کیږي. نو شیطان په توتي سره په شا اوتښتي. بیا هغه راشي او رغبتونه او آرزوګانے ورته په زړهٔ کښې اچوي او هغه کار ورته یاده وي. چه هغه دهٔ ته چرته په یاد نهٔ راځي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ قَالَ صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ مِنْ بَعْضِ الصَّلَوَاتِ ثُمَّ قَامَ فَلَمْ يَجْلِسْ فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ وَنَظَرْنَا تَسْلِيمَهُ كَبَّرَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ التَّسْلِيمِ ثُمَّ سَلَّمَ

د عبد الله بن بُحینه اسدی رضی الله عنه نه روایت د ے. چه رسول الله ﷺ په یو مونځ کښې دوه رکعته اوکړل اودریدو. او کیناستل ئے هیر شو. خلق هم د هغهٔ سره اودریدل. هر کله چه هغه مونځ اوکړو. او مونږ په انتظار کښې وو چه اوس به سلام اوګرځوي. هغه تکبیر اووے. او دوه سجدے ئے د سلام ګرځولو نه مخکښې په ناستے ناستے اوکړے او بیائے سلام اوګرځوو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ الْأَسْدِيِّ حَلِيفِ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ وَعَلَيْهِ جُلُوسٌ فَلَمَّا أَتَمَّ

د عبد الله بن بُحینه اسدی رضی الله عنه نه روایت د ے. چه حلیف وو د بنی عبد المطلب چه د رسول الله ﷺ د ماسپخین په مانځهٔ کښې د مینځ قعده هیره شوه او پاڅیدو او دریدو کله چه هغهٔ مونځ پوره کړو نو دوه

---

[1] نووی رحمه الله ویلي دي. دد ے په مطلب کښې علماؤ اختلاف کړے د ے. امام حسن بصري رحمه الله او د سلفو یو جماعت په ظاهر حدیث باند ے عمل کړے د ے. او ویلي دي چه کله مونځ کونکي ته په رکعتونو کښې د کمي یا زیاتي شک وي. نو هغه دِ په ناستے دوه سجدے کوي. او شعبي رحمه الله او د سلفو یو جماعت دا ویلي دي. چه بیا به د اول سر نه مونځ راګرځوي ترد ے پورے چه یقین حاصل شي. کهٔ چرے بیا شک وي نو بیا به د اول سر نه راګرځوي د څلورو څلو پورے. کهٔ په څلورم ځل هم شک وي نو نهٔ به راګرځوي. او د امام مالک رحمه الله او شافعي او حمد رحمهما الله او د جمهورو علماؤ دا قول د ے. چه کله شک وي چه در ے رکعته کړي دي یا څلور نو یو رکعت به بل اوکړي. دد ے دپاره چه د څلورو رکعتونو یقین ئے راشي. (انتهٰی مختصراً)

صَلَاتَهُ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ يُكَبِّرُ فِي كُلِّ سَجْدَةٍ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ وَسَجَدَهُمَا النَّاسُ مَعَهُ مَكَانَ مَا نَسِيَ مِنَ الْجُلُوسِ

سجدے ئے اوکړے . د هرے سجدے دپاره ئی تکبیر اووے د سلام نه مخکښ په ناستے ناستے . او خلقو هم دهغۀ سره دوه سجدی اوکړے. دا عوض وو د قعدے چه د هغۀ نه هیره شوے وه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ الْأَزْدِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فِي الشَّفْعِ الَّذِي يُرِيدُ أَنْ يَجْلِسَ فِي صَلَاتِهِ فَمَضَى فِي صَلَاتِهِ فَلَمَّا كَانَ فِي آخِرِ الصَّلَاةِ سَجَدَ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ ثُمَّ سَلَّمَ

د عبد الله بن مالک ابن بحینه ازدیؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ رومبی دوه رکعته اوکړل اودریدۀ. چه د هغے نه پس د کیناستو اراده وه. بیا هغه مخکښ مونځ اوکړو. هر کله چه مونځ ختم شو نو د سلام نه مخکښ ئے سجده اوکړه. او بیائے سلام اوګرځوو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَمْ أَرْبَعًا فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلَى مَا اسْتَيْقَنَ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ فَإِنْ كَانَ صَلَّى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهُ صَلَاتَهُ وَإِنْ كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ كَانَتَا تَرْغِيمًا لِلشَّيْطَانِ

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دہ. هر کله چه ستاسو نه د چا په خپل مانځۀ کښ شک راشی (چه څومره رکعتونه ئے کړے دی او معلومه نۀ شی چه درے کړے دی یا څلور نو شک به لرے کړی. او څومره قدرے چه ئے یقین وی دومره قدرے به اوکړی. بیا به د سلام نه مخکښ دوه سجدے اوکړی. اوس کۀ چرے دۀ پنځۀ رکعتونه کړی دی نو دا دوه سجدے چه ورسره یو جائے شی شپږ رکعته به شی. او کۀ پوره څلور ئے کړی دی نو په دی دواړو سجده سره به د شیطان په مخ خاورے پریوځی[1].

عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِبْرَاهِيمُ زَادَ أَوْ نَقَصَ فَلَمَّا سَلَّمَ قِيلَ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ أَحَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا صَلَّيْتَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَثَنَى رِجْلَيْهِ

د علقمه نه روایت دے عبد الله بن مسعودؓ ویلی دی. چه رسول الله ﷺ مونځ کولو. او په مانځۀ کښ څۀ کمے بیشے راغے. کله چه هغۀ سلام اوګرځوو نو خلقو اووے. چه یا رسول الله ﷺ ! ولے په مانځۀ کښ څۀ نوے حکم شوے دے؟ حضرتؐ اوفرمایل هغه څۀ؟ خلقو اووے تا داسے داسے اوکړو. ددے په اوریدو سره هغۀ دواړو خپو لره ماتے کړے

[1] یعنی هغه به ذلیل او خوار شی. د هغے مطلب خو دا وو چه په مانځۀ کښ خلل راشی . او دلته څۀ خلل نۀ دے شوے. بلکه د نورو دوو سجدو زیات ثواب ورته حاصل شولو. الحمد لله

وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ إِنَّهُ لَوْ حَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ أَنْبَأْتُكُمْ بِهِ وَلَكِنْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ ثُمَّ لِيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ	لو د قبلې په طرف ئې مخ کړو او اوئې فرمایل کهٔ چرې د مانځهٔ په باب کښې څهٔ نوې حکم وے نو ما به تاسو ته خودلے وے. خبره دومره ده چه زهٔ هم بنیادم یم څنګه چه د نورو خلقو نه هیریږی. هر کله چه څما هیر شی نو ما ته یادوئ او هر کله چه ستاسو نه چا ته په مانځهٔ کښې شک راشی. نو سوچ دِ اوکړی کوم چه ورته صحیح معلوم شی په هغې دِ مونځ پوره کړی بیا دِ دوه سجدے اوکړی[1]
عَنْ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا فَلَمَّا سَلَّمَ قِيلَ لَهُ أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا صَلَّيْتَ خَمْسًا فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ	د عبد الله بن مسعود ؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ د ماسپخین مونځ پنځهٔ رکعتونه اوکړل سلام اوګرځوو. خلقو اووے ولې مونځ زیات شوے دے؟ هغهٔ ﷺ اوفرمایل څنګه؟ هغوی اووے. تا پنځهٔ رکعتونه اوکړل بیا هغهٔ دوه سجدے اوکړے[2].
عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ صَلَّى بِنَا عَلْقَمَةُ	د ابراهیم بن سید نه روایت دے چه علقمه د ماسپخین مونځ ورکولو

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی. ددے حدیث نه ثابتیږی. چه رسول الله صلّی الله علیه وسلم لره ددین په خبرو کښې هیریدل پاتے کیدل وو. او د جمهور علماؤ دغه مذهب دے. او دغه ظاهر دے د قرآن او حدیث نه. خو الله تعالی به هغهٔ ته یادول. او د هغهٔ نه به همیشه هیر نهٔ وو. او دغه یادول د هیریدو سره خاص کیږی. یا د وخت تیریدو نه پس. په دے کښې د علماؤ اختلاف دے. امام الحرمین په دے کښې د هغهٔ د ژوند پورے ساعت جائز کړے دے. او د علماؤ یو جماعت په عبادات او تبلیغات کښې سهوے لره جائز کړے نهٔ ده. لکه په تبلیغی اقوال کښې سهوه جائز نهٔ ده. مګر دا مذهب صحیح نهٔ دے. انتهی مختصراً

[2] دا حدیث دلیل دے د امام مالک او شافعی او احمد رحمهم الله او د جمهور سلفو. چه کوم سړے یو رکعت په هیره سره زیات اولولی د هغهٔ مونځ نهٔ باطلیږی بلکه کهٔ د سلام ګرځولو نه پس ورته پته اولږی. نو مونځ صحیح شوے دے. اوس د، سجده سهوه اوکړی کهٔ چرے سلام ته نږدے هغه علم راغے. او کهٔ چرے څهٔ وخت پس ورته معلوم شوه نو سجده دِ نهٔ کوی. او کهٔ د سلام نه مخکښې دا خبره معلومه شی نو فوراً دِ کینی او تشهد دِ اولولی اګر کهٔ په قیام کښې وی یا په رکوع کښې وی یا په سجده کښې وی. اوس به سجده سهوه د سلام نه مخکښې کوی یا د سلام نه پس. په دے کښې اختلاف دے. لکه پورته چه تیر شو. او د ابوحنیفه رحمه الله او د اهل کوفه دا قول دے چه کهٔ چرے په هیره سره پنځم رکعت اوکړی او آخری قعدهٔ ئې نهٔ وی کړے نو مونځ باطل شو (یعنی نفل شو) اوس به یو رکعت بل اوکړی نو شپږ رکعته نفل به شی. او فرض مونځ به بیا د سر نه ادا کړی. او کهٔ آخری قعده ئې کړے وی. نو د پنځم رکعت سره به یو رکعت بل ملاؤ کړی اوس څلور فرض ادا شول او دوه نفل. ددے حدیث نه د ابوحنیفه رحمه الله او اهل کوفه د مذهب رد کیږی. ولے چه حضرت د پنځم رکعت سره یو رکعت بل ملاؤ نهٔ کړو. او قعده آخره ئې اوکړه. ځکه چه هغهٔ ته د سلام نه پس معلومه شوه. اوس د شافعی رحمه الله مذهب دا دے. چه زیاتوالے خواه کهٔ لږ وی ډیر مونځ لره نهٔ باطلوی. مثلاً د یوے رکوع په ځائے ئې څو څو رکوع په هیره سره اوکړے. یا درے یا څلور سجدے ئې اوکړے. البته په داسے صورت کښې سجده سهوه کول مستحب دی. او واجب نهٔ دی (نووی رحمه الله)

الظُّهرَ خَمسًا فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ الْقَومُ يَا أَبَا شِبْلٍ قَدْ صَلَّيتَ خَمسًا قَالَ كَلَّا مَا فَعَلْتُ قَالُوا بَلَى قَالَ وَكُنتُ فِي نَاحِيَةِ الْقَومِ وَأَنَا غُلَامٌ فَقُلْتُ بَلَى قَدْ صَلَّيتَ خَمسًا قَالَ لِي وَأَنتَ أَيضًا يَا أَعوَرُ تَقُولُ ذَاكَ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَانفَتَلَ فَسَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ قَالَ قَالَ عَبدُ اللهِ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ خَمسًا فَلَمَّا انفَتَلَ تَوَشوَشَ الْقَومُ بَينَهُم فَقَالَ مَا شَأنُكُم قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ زِيدَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ لَا قَالُوا فَإِنَّكَ قَدْ صَلَّيتَ خَمسًا فَانفَتَلَ ثُمَّ سَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثلُكُم أَنسَى كَمَا تَنسَونَ وَزَادَ ابنُ نُمَيرٍ فِي حَدِيثِهِ فَإِذَا نَسِيَ أَحَدُكُم فَلْيَسجُد سَجدَتَينِ

نو پنځۀ رکعتونه ئې اوکړل او هر کله چه سلام ئې اوګرځوو نو خلقو اووے. چه اے ابوشبل (د علقمه کنيت دے) تا پنځۀ رکعتونه اوکړل هغوی اووے. چه نۀ. خلقو اووے. بيشکه تا پنځۀ رکعتونه اوکړل او زۀ په يو ګوټ کښې ناسو وم معصوم بچے وم. ما هم اووے. آو. تا پنځۀ رکعتونه اوکړل. هغوی اووے. اے کاڼه ته هم داسے وائې. ما اووے آو. ددے په اوريدو سره هغه اوګرځيدو او دوه سجدے ئې اوکړے. بيائې سلام اوګرځوو او اوئې ويل چه عبد الله بن مسعودؓ ويلی دی. چه رسول الله ﷺ مونږ ته پنځۀ رکعتونه اوکړل کله چه هغه د مانځۀ نه فارغ شو. نو خلقو ګړ ګړ شروع کړل حضرت اوفرمايل څۀ اوشو تاسو لره؟ هغوی عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! ولے مونځ سوا شو؟ حضرت ﷺ اوفرمايل نا. هغوی اووے. تا پنځۀ رکعتونه اوکړل. ددے په اوريدو سره هغه اوګرځيدو او دوه سجدے ئې اوکړے. بيائې سلام اوګرځوو او اوئې فرمايل. زۀ هم ستاسو په شان پنيادم يم څنګه چه ستاسو هيريږی دغه شان ځما هم هيريږی. او د ابن نمير په روايت کښې دومره زياته ده چه هر کله ستاسو نه څۀ هير شي نو دوه سجدے کوئ[1].

عَنْ عَبدِ اللهِ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ خَمسًا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا صَلَّيتَ خَمسًا قَالَ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثلُكُم أَذكُرُ كَمَا تَذكُرُونَ وَأَنسَى كَمَا تَنسَونَ ثُمَّ سَجَدَ سَجدَتَيِ السَّهوِ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ مونږ ته مونځ راکولو نو پنځۀ رکعتونه ئې اوکړل. مونږ عرض اوکړو يا رسول الله! ولے مونځ سوا شولو. هغۀ اوفرمايل څنګه؟ مونږه اووے تا پنځۀ رکعتونه اوکړل. هغۀ اوفرمايل. زۀ بنده يم ستاسو په شان. ياد لرم لکه چه تاسو ياد لرئ او هيريږی مے لکه چه ستاسو نه هيريږی بيائې د سهوے دوه سجدے اوکړے.

---

[1] ابراهيم بن سويد د علقمه شاګرد وو. او خپل شاګرد يا وروکی خپلوان ته په داسے لفظ ويلو کښې خرابی نشته. په شرط ددے چه هغه بد نۀ ګنړی. دا ابراهيم کاڼه وو. او دا هغه ابراهيم نۀ دے کوم چه د علقمه مشهور شاګرد او د حماد استاد دے. هغه ابراهيم بن يزيد نخعي رحمه الله دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزَادَ أَوْ نَقَصَ قَالَ إِبْرَاهِيمُ وَالْوَهْمُ مِنِّي فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ فَقَالَ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ فَإِذَا نَسِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ ثُمَّ تَحَوَّلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نو هغهٔ زیات کړو یائے کم کړو. ابراهیم ویلی دی کوم چه دد دے حدیث راوی دے قسم په خدائے دا زمانه هیر شوی دی مونږه اووے. یا رسول الله ﷺ ولے د مانځهٔ په باب کښں څهٔ نوے حکم شوے دے؟ هغهٔ اوفرمایل نا. مونږ بیان کړل هغه څهٔ چه هغهٔ کړی وو. بیا هغهٔ اوفرمایل څوک چه په مانځهٔ کښں زیاتے اوکړی یا کمے. نو هغه دِ دوه سجدے کوی په دغه حال کښں چه هغه ثابت وی بیا هغه دوه سجدے اوکړے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ وَالْكَلَامِ

د عبد اللهؓ نه روایت دے چه بیشکه نبی ﷺ د سهوی دوه سجدے د سلام او کلام نه پس کړی دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِمَّا زَادَ أَوْ نَقَصَ قَالَ إِبْرَاهِيمُ وَايْمُ اللهِ مَا جَاءَ ذَاكَ إِلَّا مِنْ قِبَلِي قَالَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَحَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ فَقَالَ لَا قَالَ فَقُلْنَا لَهُ الَّذِي صَنَعَ فَقَالَ إِذَا زَادَ الرَّجُلُ أَوْ نَقَصَ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ قَالَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ

د عبدا اللهؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو. نو هغهٔ زیات اوکړو یا کم ابراهیم ویلی دی په خدائے مِ دِ قسم وی چه (دا وَهَم) څما د طرفه دے. مونږه اووے. یا رسول الله ﷺ ولے په مانځهٔ کښں څهٔ نوے حکم شوے دے؟ نو هغهٔ اوفرمایل. نا. بیا مونږ هغه خبره اوکړه. کومه چه هغهٔ کړے وه (یعنی زیاتوالے یا کمے) نو هغهٔ اوفرمایل. کله چه یو سړے زیات اوکړی (مانځهٔ لره) یا کم نو پکار ده چه د سهوے دوه سجدے اوکړی. او ویل (راوی) چه بیا هغه د سهوے دوه سجدے اوکړلے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِحْدَى صَلَاتَيِ الْعَشِيِّ إِمَّا الظُّهْرَ وَإِمَّا الْعَصْرَ فَسَلَّمَ فِي رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَتَى جِذْعًا فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَاسْتَنَدَ إِلَيْهَا مُغْضَبًا وَفِي

د ابو هریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ یا د ماسپخین مونځ وکولو. د دوه رکعته کول نه پس ئے سلام اوګرځولو. بیا د یو لرګی خواله راغے چه په جماعت کښں د قبلے په طرف لګیدلے وو هغے ته ئے ډډه اووهله او په غصه کښں ابوبکرؓ او عمرؓ هم موجود وو. هغوی دواړو دیرے نه خبرے نهٔ شوے کولے. او خلقو زر زر دا وینا کوله او اووتل

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د سلام ګرځولو نه پس څهٔ خبرے هم اوکړی نو هم قباحت نشته. دوه سجدے د سهوے دِ اوکړی. (د احنافو په نز په خبرو کولو سره مونځ ماتیږی. دا حدیث په هغه زمانه محمول دے کله چه په مانځهٔ کښں خبرے جائز وے. عارف)

الْقَوْمِ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَهَابَا أَنْ يَتَكَلَّمَا وَخَرَجَ سَرَعَانُ النَّاسِ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ فَقَامَ ذُو الْيَدَيْنِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ أَمْ نَسِيتَ فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِينًا وَشِمَالًا فَقَالَ مَا يَقُولُ ذُو الْيَدَيْنِ قَالُوا صَدَقَ لَمْ تُصَلِّ إِلَّا رَكْعَتَيْنِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَسَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ فَرَفَعَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ وَرَفَعَ قَالَ وَأُخْبِرْتُ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّهُ قَالَ وَسَلَّمَ

چه مونځ كم شولو. بيا يو سړے چه هغهٔ ته به ئے ذواليدين ويلو (يعنى د دوو لاسونو والا اګر چه د ټولو خلقو دوه لاسونه وى. خو د هغهٔ لاسونه اوږدهٔ وو په دے وجه ئے دا نوم شوے وو) اودريدو. او اوئے ويل. يا رسول الله ﷺ! ولے مونځ كم شوے دے يا ستا هير شوى دى. دد ے په اوريدلو سره رسول الله ﷺ ښى او ګس طرفته اوتكل او دائے اوفرمايل. چه ذواليدين څهٔ وائى. خلقو اووے يا رسول الله ﷺ هغه رښتيا وائى. تا دغه دوه ركعته كړى دى. دد ے په اوريدو سره هغهٔ دوه ركعتونه نور اوكړل او سلام ئے اوګرځوو. بيائے تكبير اووے. او سرئے اوچت كړو. بيائے تكبير اووے. او سجده ئے اوكړه. بيائے تكبير اووے او سرئے اوچت كړو. محمد بن سيرينؒ ويلى دى. ما ته دا بيان اوكړے شو. چه عمران بن حصين ويلى دى. او سلام ئے اوګرځوو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعَصْرِ فَسَلَّمَ فِي رَكْعَتَيْنِ فَقَامَ ذُو الْيَدَيْنِ فَقَالَ أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ يَا رَسُولَ اللهِ أَمْ نَسِيتَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ ذَٰلِكَ لَمْ يَكُنْ فَقَالَ قَدْ كَانَ بَعْضُ ذَٰلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ أَصَدَقَ ذُو الْيَدَيْنِ فَقَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ فَأَتَمَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَقِيَ مِنَ الصَّلَاةِ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ بَعْدَ التَّسْلِيمِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ د مازيګر مونځ وركولو. او د دوه ركعته كولو نه پس ئے سلام اوګرځوو. نو ذواليدينؓ پاڅيدو او عرض ئے اوكړو. يا رسول الله ﷺ! ولے مونځ كم شولو يا ستا هير شول؟ رسول الله ﷺ اوفرمايل. دسے څهٔ خبره نهٔ ده شوے (يعنى نهٔ مونځ كم شوے دے نهٔ ځما هير شول) هغهٔ اووے. څهٔ خو ضرور شوي دى. يا رسول الله ﷺ! هغهٔ د خلقو په طرف مخ راواړه وو او تپوس ئے اوكړو. ولے ذواليدينؓ رښتيا وائى. هغه خلقو اووے آو. يا رسول الله ﷺ! هغه رښتيا وائى. بيا هغهٔ څومره مونځ چه پاتے شوے وو. هغه ئے پوره كړو. بيائے په ناستے ناستے دوه سجدے اوكړے د سلام نه پس.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ ثُمَّ سَلَّمَ فَأَتَاهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ د ماسپخين دوه ركعتونه ادا كړل. بيائے سلام اوګرځوو. نو د بنى سليم نه يو سړے راغے. او عرض ئے اوكړو. يا رسول الله ﷺ! ولے مونځ كم شوے دے يا ستا

أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ أَمْ نَسِيتَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ

هیر شو؟ او بیان ئې کړو حدیث لره لکه چه پورته تیر شو.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْعَصْرَ فَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَهُ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْخِرْبَاقُ وَكَانَ فِي يَدَيْهِ طُولٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ فَذَكَرَ لَهُ صَنِيعَهُ وَخَرَجَ غَضْبَانَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَى النَّاسِ فَقَالَ أَصَدَقَ هٰذَا قَالُوا نَعَمْ فَصَلَّى رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ

د عمران بن حصین ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ د مازیگر درے رکعته ادا کړل او سلام ئې اوگرځول او خپل کور ته لاړو. بیا په هغهٔ پسی یو سړے لاړو چه هغهٔ ته ئې خرباق ویلو او د هغهٔ لاسونه لږ شان اوږدهٔ وو. هغهٔ حضرتؐ ته اووے. څهٔ چه هغه کړی وو (یعنی د دریو رکعتونو د کولو حال ئې ورته بیان کړو.) هغه څادر راښکودو او په غصه کښې را اووتو (ولے چه د هغهٔ سره د مانځهٔ ډیر خیال وو. او هم د دغے وجے نه ئې جلدی اوکړه او د څادر پسرولو په برابر هم حصار نهٔ شو) تر دے پورے چه د خلقو خواله اورسیدو او تپوس ئې اوکړو دا رښتیا وائی؟ خلقو اووے. آو. بیا هغهٔ ﷺ یو رکعت اوکړو او سلام ئې اوگرځوو. بیائے دوه سجدے اوکړے. بیائے سلام اوگرځوو.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ قَالَ سَلَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ مِنَ الْعَصْرِ ثُمَّ قَامَ فَدَخَلَ الْحُجْرَةَ فَقَامَ رَجُلٌ بَسِيطُ الْيَدَيْنِ فَقَالَ أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ يَا رَسُولَ اللهِ فَخَرَجَ مُغْضَبًا فَصَلَّى الرَّكْعَةَ الَّتِي كَانَ تَرَكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ ثُمَّ سَلَّمَ

د عمران بن حصین ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ د مازیگر درے رکعته ادا کړل او سلام ئې اوگرځوو (په هیره سره) بیا هغه پاسیدو او هُجرے ته لاړو. په دے کښې یو سړے اوږدو لاسونو والا پاڅیدو. او عرض ئې اوکړو یا رسول الله ﷺ! ولے مونځ کم شولو؟ حضرت ﷺ چه دا واوریدل نو په غصه کښې راووتو. او کوم رکعت چه پاتے شوے وو هغه ئې اوکړلو بیائے سلام اوگرځوو. بیائے د سهوے دوه سجدے اوکړے او بیائے سلام اوگرځوو.

بَابُ سُجُودِ التِّلَاوَةِ

باب : د سجدۂ تلاوت بیان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ فَيَقْرَأُ سُورَةً فِيهَا سَجْدَةٌ فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ مَعَهُ حَتَّى مَا يَجِدُ بَعْضُنَا مَوْضِعًا لِمَكَانِ جَبْهَتِهِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ قرآن لوستلو. نو هغه سورة ئې اولوستو چه په هغے کښې د سجدے آیت وو. پس سجده ئې اوکړه او د هغه سره چه کوم خلق وو هغوی هم سجده اوکړه. تر دے پورے چه په مونږ کښې څنو ته د خپل تندی د ایخودو

خائے هم نهٔ میلاویدو[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رُبَّمَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ فَيَمُرُّ بِالسَّجْدَةِ فَيَسْجُدُ بِنَا حَتَّى ازْدَحَمْنَا عِنْدَهُ حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا مَكَانًا لِيَسْجُدَ فِيهِ فِي غَيْرِ صَلَاةٍ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به کله قرآن لوستلو او د سجدے آیت به ئے تلاوت کړو نو زمونږ سره به ئے سجده کوله تردے پورے چه د هجوم په وجه سره به چاته دخپل تندی د ایخودو خائے نهٔ میلاویدو اودا به د مانځهٔ نه بهر وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَرَأَ وَالنَّجْمِ فَسَجَدَ فِيهَا وَسَجَدَ مَنْ كَانَ مَعَهُ غَيْرَ أَنَّ شَيْخًا أَخَذَ كَفًّا مِنْ حَصًى أَوْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى جَبْهَتِهِ وَقَالَ يَكْفِينِي هٰذَا قَالَ عَبْدُ اللهِ لَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا

د عبد الله ؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ سورة والنّجم اولوستو او په هغے کښ ئے سجده اوکړه. د هغهٔ سره چه څومره خلق وو هغوی تولو سجده اوکړه مگر یو بوډا (امیه بن خلف) یو ډک موټے خاورے یا گیټئ په لاس کښ واخستے او د تندی سره ئے اولگولے. او دائے اووے. ځما دپاره دغه پوره ده. عبد الله ویلی دی. ما اولیدهٔ هغه بوډا لرهٔ چه هغه د کفر په حالت کښ اووژلے شو[2].

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّهُ سَأَلَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ الْإِمَامِ فَقَالَ لَا قِرَاءَةَ مَعَ الْإِمَامِ فِي

د عطاء بن یسار ؒ نه روایت دے. چه هغوی د زید بن ثابت ؓ نه په امام پسے روستو د لوستو په باره کښ تپوس اوکړو. هغوی اووے د

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی. زمونږه او د جمهورو دا قول دے. چه د تلاوت سجده سنت ده. او ابوحنیفه رحمه الله دے ته واجب ویلی دی. او د تلاوت سجده په لوستونکو او اوریدونکو باندے یو شان سنت ده. او مستحب ده په هغه اوریدونکی باندے چه هغه نهٔ اوری. اوس کهٔ چرے اوریدونکے په مونځ لوستونکی پسے شاته ولاړ نه دے. نو لوستونکی ته اختیار دے څومره چه غواړی خپله سجده د، اوږده کوی یا لنډه کوی د لوستونکی د سجدے نه. او کوم لوستونکے چه په وجه د نابالغ والی یا بے اودسئ سجده نهٔ کوی. بیا هم اوریدلو والا سجده کولے شی. او ځنو عالمانو ویلی دی. خه د نابالغه او بے اودسه او د کافر په تلاوت اوریدو سره به سجده نهٔ کوی. لیکن صحیح رومبے قول دے. انتهی

[2]: د بدر په جنګ کښ د هغه د ناشکرئ او بے ادبئ صله وه. چه الله تعالی هغهٔ لره ایمان ورنهٔ کړلو. په کوم وخت چه سورة والنجم نازل شو لو هغه دسجدے آیت اولوستو او سجده ئے اکړه. نو د هغهٔ سره تولو خلقو ددے پورے چه مشرکانو او جنّاتو هم سجده اوکړه. ابن عباس رضی الله عنه ویلی دی. بلکه دا خبر مشهور شو. چه مکے والا مسلمانان شول. قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی. ددے تولو د سجدے کولو سبب دا وو. چه دا سجده د تولو سجدو نه مخکښ نازله شوه. عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هم دغه شان ویلی دی او دا چه کوم ځنو مفسرینو او مخبرینو نقل کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په غلطئ سره په دے سورة کښ یو آیت لوستلے وو. چه د هغے نه د مشرکانو د بوتانو تعریف وو. دا بالکل دروغ او بے اصل خبره ده ځکه چه د الله تعالی نه سوا د بل چا معبود تعریف کول کفر دے. او د کفر نسبت د هغهٔ په طرف محال دے. او د شیطان دا طاقت نشته چه د هغهٔ د ژبے نه یو داسے خبره اوباسی. نووی رحمه الله

شَيْءٍ وَزَعَمَ أَنَّهُ قَرَأَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى فَلَمْ يَسْجُدْ	امام نه روستو څه ویل نه دي پکار او اوئے ویل چه ما د رسول الله ﷺ په مخکښې سوره والنجم اولوستو بیا هغه سجده او نه کړله [1].
عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَرَأَ لَهُمْ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ فَسَجَدَ فِيهَا فَلَمَّا انْصَرَفَ أَخْبَرَهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ فِيهَا	د ابوسلمه بن عبد الرّحمٰن نه روایت دے. چه ابوهریره سورة إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ اولوستو نو سجده ئے اوکړه. هر کله چه د مانځهٔ نه فارغ شو نو بیان ئے اوکړو چه رسول الله ﷺ په دے سورة کښې سجده کړے وه.

---

[1] امام ابوحنیفه رحمه الله د زید بن ثابت رضی الله عنه د قول نه استدلال کړے دے او د امام نه روستو ئے د مطلق قراءت نه منع کړے ده. خواه کهٔ هغه سورة فاتحه وي یا بل څهٔ سورة وي. خواه کهٔ هغه سرّي مونځ وي یا جهري. او زمونږ مذهب دا دے. چه سورة فاتحه په امام پسے ویل پکار دي. په سرّي او جهري مانځهٔ دواړو کښې. او د زید د قول جواب دا دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه کوم بنده سوره فاتحه نه لولي د هغهٔ مونځ نهٔ کیږي. او فرمایلي ئے دي چه هر کله تاسو په ما پسے مونځ کوئ نو بل سورة مهٔ لولئ سوا د سورة فاتحے نه. او دے نه سوا نور حدیثونه هم دي. بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیثونه د زید بن ثابت رضی الله عنه په قول باندے مقدّم دي. دویم دا چه د زید رضی الله عنه مطلب د قراءت د ممانعت نه دا دے چه سوا د سورة فاتحے نه بل سورت او نهٔ لوستے شي. او دا تاویل ضروري دے «د لاقراءة مع الامام في شيئ صراحت دے یعني د امام نه روستو قراءت جائز نهٔ دے نو بیا د تاویل گنجائش څنگه کیدے شي عارف» د دے دپاره چه د نورو احادیثو نه خلاف رانشي. او دا چه کوم زید رضی الله عنه ویلي دي چه هغوی سورة والنجم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښې لوستلو او هغهٔ سجده اونهٔ کړه. دا په ظاهر د امام مالک رحمه الله دلیل دے. چه هغه واني په مفصل کښې څهٔ سجده نشته دے او د سورة والنجم او إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ او اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ سجدې منسوخ دي په دے حدیث سره یا د عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما په حدیث سره. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سجده اونکړه په مفصل کښې کله چه د مدینے نه راغلے. او دا مذهب ضعیف دے. ولے چه د ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې دي خه مونږه په إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ او اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ کښې د رسول الله علیه وسلم سره سجده کړے ده. او علماؤ په دے امر باندے اجماع کړے ده. چه ابوهریره رضی الله عنه په سنه ۷ھ کښې مسلمان شوے دے. او د ابن عباس رضی الله عنه د حدیث اسناد ضعیف دے. هغه د دلیل د راوړلو لایق نهٔ دے. او د زید رضی الله عنه د حدیث نه د سجدے پریخودل ثابتیږي. او ظاهره ده چه د تلاوت سجده سنت ده. نو د هغے پریخودل جائز دي. اوس علماؤ اختلاف کړے دے. چه په ټول قرآن کښې د تلاوت څومره سجدے دي. نو د امام شافعي رحمه الله او د علماؤ د یو گروپ دا قول دے چه په قرآن کښې ټولے څوارلس سجدے دي. دوه په سوره حج کښې او درے په مفصل کښې. او صاد کښې سجده د تلاوت نشته دے. بلکه سجده د شکر ده. او د امام مالک رحمه الله او د علماؤ د یو جماعت په نز ټولے یولس سجدے دي. د هغهٔ په نز د مفصل درے واړه سجدے ساقطے دي. او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز ټولے سجدے څوارلس دي. لیکن په سوره حج کښې یوه سجده ده. او په صٓاد کښې یوه سجده ده. او د احمد بن شریح رحمه الله په نز باندے ټولے پنځلس سجدے دي. هغوی د حج دواړو سجدو لره او د صٓاد سجدے لره هم قائمه کړے ده. او د دغه سجدو مقامات مشهور دي صرف د حٰمٓ د سجدے په مقام کښې اختلاف دے. د امام مالک رحمه الله او د سلفو د یو جماعت په نز دا سجده په إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ باندے ده. او د ابو حنیفه او شافعي رحمهما الله او د جمهورو په نز په لَا يَسْأَمُونَ باندے ده. «نووي رحمه الله»

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَجَدْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ

د ابوهريره نه روايت دے . چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ او اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ سجده كړے ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ سَجَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ

د ابوهريره نه روايت دے .چه رسول الله ﷺ په إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ او وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ كښې سجده كړے ده.

عَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ صَلَاةَ الْعَتَمَةِ فَقَرَأَ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ فَسَجَدَ فِيهَا فَقُلْتُ لَهُ مَا هٰذِهِ السَّجْدَةُ فَقَالَ سَجَدْتُ بِهَا خَلْفَ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا أَزَالُ أَسْجُدُ بِهَا حَتَّى أَلْقَاهُ وَ قَالَ ابْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى فَلَا أَزَالُ أَسْجُدُهَا

د ابورافع نه روايت دے چه ما د ابوهريره سره د ماسختن مونځ كولو.نو اوئے لوستو إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ لره.او سجده ئے اوكړه په هغے كښې (دمانځۀ نه پس) ما اووے دا سجده تا څنګه اوكړه؟هغوى اووے.ماخودا سجده په رسول الله ﷺ پسے كړيده.اوزۀ به دے لره دهغے پورے كوم چه د هغۀ سره ملاؤ شم.دابن عبد الاعلى په روايت كښې داسے دى چه زۀ به دا سجده هميشه كوم.

عَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَسْجُدُ فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ فَقُلْتُ تَسْجُدُ فِيهَا فَقَالَ نَعَمْ رَأَيْتُ خَلِيلِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِيهَا فَلَا أَزَالُ أَسْجُدُ فِيهَا حَتَّى أَلْقَاهُ قَالَ شُعْبَةُ قُلْتُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ

د ابورافع نه روايت دے . چه ما ابوهريره لره اوليدو چه هغه په سوره إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ كښې سجده كوله. اومے وے ورته ته په دے سورة كښې سجده كوے ؟هغوى اووے .آو. ما خپل دوست ﷺ لره ليدلے وو چه هغۀ په دے سورة كښې سجده كوله نو زۀ به هم په دے سورة كښې سجده كوم تردے پورے چه زۀ د هغۀ سره (په عالم آخرت كښې) ملاؤ شم شعبه اووے.ولے نبى عليه السلام سجده كوله نو اوئے فرمايل.آو.

بَاب صِفَةِ الْجُلُوسِ فِي الصَّلَاةِ وَكَيْفِيَّةِ وَضْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الْفَخِذَيْنِ

باب : په مانځۀ كښې د ناستے او په دواړو ورنانو د دواړو لاسونو د ايخودو طريقه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ فِي الصَّلَاةِ جَعَلَ قَدَمَهُ الْيُسْرَى بَيْنَ فَخِذِهِ وَسَاقِهِ وَفَرَشَ قَدَمَهُ الْيُمْنَى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى

د عبد الله بن زبير نه روايت دے . رسول الله ﷺ چه به كله په مانځۀ كښې كيناستو نو ګسے خپے لره به ئے د پنډئ او د ورون په مينځ كښې ګرځوله. او ښئ خپه به ئے خوروله او ګس لاس به ئے په ګس زنګون باندے ايخودلو. او ښئ لاس به ئے په ښى ورون باندے ايخودلو. او په ګوته سره به ئے اشاره كوله

فَخِذِهِ الْيُمْنٰى وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ يَدْعُو وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُمْنٰى وَيَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُسْرٰى وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلٰى إِصْبَعِهِ الْوُسْطٰى وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرٰى رُكْبَتَهُ

د عبد الله بن زبیرؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ چه به کله په د دُعا کولو دپاره کیناستو نو ښی لاس به ئے په ښی ورون باندے ایخودلو. او ګس لاس به ئے په ګس ورون باندے. او د کلمے په ګوته سره به ئے اشاره کوله او خپله ګوته به ئے د مینځ په ګوته باندے ایخودله او ګس ورغوی لره به ئے په ګس زنګون باندے ایخودلو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ وَرَفَعَ إِصْبَعَهُ الْيُمْنٰى الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ فَدَعَا بِهَا وَيَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُسْرٰى بَاسِطَهَا عَلَيْهَا

د عبد الله ابن عمرؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ چه به کله په مانځهٔ کښ کیناستو نو دواړه لاسونه به ئے په زنګونانو باندے ایخودل. او د ښی لاس د کلمے ګوتے لره به ئے اوچتوله په هغے سره به ئے دُعا کوله. او ګس لاس به ئے په ګس زنګون باندے ایخودلو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُسْرٰى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُمْنٰى وَعَقَدَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ

د عبد الله بن زبیرؓ نه روایت دے. رسول الله ﷺ چه به کله په تشهد کښ کیناستو نو ګس لاس به ئے په ګس زنګون باندے ایخودو. او ښی لاس به ئے په ښی زنګون ایخودو. او د درے پنځوسو شکل به ئے جوړ وو. او د کلمے په ګوته سره به ئے اشاره کوله[1].

---

[1]: نووی رحمه الله ویلی دی دا چه کوم د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه په حدیث کښ د کیناستو شکل راغلے دے. دے ته تورک ویلے شی. او دا سنت دی. لیکن په دے روایت کښ چه کوم د ښیٔ خپے د غوړولو ذکر دے دا مشکل دے ولے چه په تورک کښ په اتفاق د علماؤ ښیٔ خپه ولاړه ساتل سنت دی. او د احادیث صحیحه نه دغه ثابت دے. قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی کیدے شی دا غلطی ده. او صحیح داد ے چه وے غوړوله ګس خپه لیکن د ګسے خپے خو ذکر په خپله په روایت کښ موجود دے. چه هغے لره به ئے د ورون او د پنډیٔ په مینځ کښ کوله او کیدے شی د فرش په ځائے د نصب لفظ صحیح وی. یعنی اودروله به ئے ښیٔ خپے لره. او یو تاویل داد ے چه د ښیٔ خپے غوړول هم صحیح دی. او دغه صحیح او مختار دے. اګر چه د ګوتو په سرونو باندے اودرول د خپو مستحب دی. او په دے مسئله کښ د علماؤ اختلاف دے. چه څنګه کیناستل غوره دی په دواړو جلسو کښ. د امام مالک رحمه الله په نزد تورک غوره دے. او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په دواړو کښ افتراش غوره دے. یعنی ګسه خپه غوړول او په هغے باندے کیناستل او ښیٔ خپه اودرول. او د امام شافعی رحمه الله په نزد په رومبیٔ کښ افتراش او په دویمه کښ تورک غوره دے. اوس دا چه په یو روایت کښ راغلی دی. چه خپله غټه ګوته ئے د مینځ په ګوته کښ کیښوده. او په دویم روایت کښ داسے راغلی دی چه د درے پنځوسو شکل ئے جوړ کړو. په هغے کښ تطبیق داد ے چه کله ئے داسے کړی دی. او کله ئے هغسے کړی دی. او څنو دا ویلی دی چه په رومبی روایت کښ د مونځ په ګوته باندے د ایخودلو نه مراد داد ے. چه د هغے د لاندے سره ئے نژدے کیښوده. په دغه صورت کښ د درے پنځوسو شکل جوړیږی. او د صحیه

عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْمُعَاوِيِّ أَنَّهُ قَالَ رَآنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ وَأَنَا أَعْبَثُ بِالْحَصَى فِي الصَّلَاةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ نَهَانِي فَقَالَ اصْنَعْ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فَقُلْتُ وَكَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ قَالَ كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَقَبَضَ أَصَابِعَهُ كُلَّهَا وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى

د علی بن عبد الرّحمٰن معاوی ؓنه روایت دے. چه زهٔ عبدالله بن عمر ؓ اولیدم په مانځهٔ کښں د ګیټو سره په لوبو کولو باندے. کله چه زهٔ ئے منع کړم. او دا ئے اووے. چه داسے کوه لکه چه به رسول الله ﷺ کولو . ما اووے. هغهٔ به څنګه کولو. هغوی اووے. چه هغهٔ به کله په مانځهٔ کښں کیناستو ښی ورغوے به ئے په ښی پتون باندے کیښودو. او ټولو ګوتو لره به ئے بندے کړے . او په هغه ګوته سره به ئے اشاره کوله. کومه چه د غټے ګوتے په خواه کښں ده (یعنی د کلمے په ګوته سره) او ګس ورغوے به ئے په ګس ورون باندے ایخودو.

بَابُ السَّلَامِ لِلتَّحْلِيلِ مِنَ الصَّلَاةِ عِنْدَ فَرَاغِهَا وَكَيْفِيَّتِهِ

باب : د مانځهٔ د ختمولو په وخت سلام څنګه ګرځول پکار دی

عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ أَنَّ أَمِيرًا كَانَ بِمَكَّةَ يُسَلِّمُ تَسْلِيمَتَيْنِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ أَنَّى عَلِقَهَا قَالَ الْحَكَمُ فِي حَدِيثِهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُهُ

د ابومعمر نه روایت دے چه په مکه کښں یو امیر وو هغه به دوه سلامونه ګرځول عبد الله ویلی دی. دهٔ دا سنت د کوم ځائے نه حاصل کړی دی. د حکم په روایت کښں دی چه رسول الله ﷺ به دغه شان کولو.

حدیثو د دلائلو په وجه سره د کلمے په ګوته سره اشاره کول مستحب دی. لیکن زمونږ ملګرو ویلی دی چه د اِلّا الله ویلو په وخت به اشاره کوی او دا اشاره صرف د کلمے په ګوته سره کول پکار دی. که چرے هغه کټ شوی وی یا بل څهٔ عذر وی نو په بله ګوته سره به اشاره نهٔ کوی او سنت دا دی چه د اشارے کولو په وخت به خپل نظر هم د اشارے د ګوته باندے لری. (انتهٰی مختصراً)

ترجمه کونکے وائی چه د احادیث صحیحه نه دا امر ثابت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کله په مانځهٔ کښں کیناستو نو په دے شان به کیناستو . یعنی د کلمے په ګوته سره به ئے اشاره کوله اوس خاص د اِلّا الله په وخت اشاره کول دا د یو صحیح حدیث نه ثابت نهٔ دی. خکه د اهل حدیثو عمل په دے باندے دے. چه هغه د قعدے د شروع نه د اخره پورے. د کلمے په ګوته سره اشاره کوی. او دغه (د دوی په خیال کښں) صحیح دے.

عَنْ سَعْدٍ قَالَ كُنْتُ أَرٰى رَسُولَ اللهِ ﷺ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهٖ وَعَنْ يَسَارِهٖ حَتّٰى أَرٰى بَيَاضَ خدِهٖ

د سعد ؓ نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ لره نبی اوکس طرفته په سلام ګرځولو لیدلو. تر دے پورے چه د هغهٔ د اتګو سپین والے به ماته ښکاریدو[1].

بَاب الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ

باب: د مانځهٔ نه پس څهٔ ویل پکار دی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنَّا نَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْبِيرِ

د عبد الله بن عباس ؓ نه روایت دے. چه مونږ پیژندلو د رسول الله ﷺ د مانځهٔ ختمیدلو لره کله چه به هغهٔ تکبیر اووے.

عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يُخْبِرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا كُنَّا نَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا بِالتَّكْبِيرِ قَالَ عَمْرٌو فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِأَبِي مَعْبَدٍ فَأَنْكَرَهُ وَقَالَ لَمْ أُحَدِّثْكَ بِهٰذَا قَالَ عَمْرٌو وَقَدْ أَخْبَرَنِيهِ قَبْلَ ذٰلِكَ

د عبدالله بن عباس ؓ نه روایت دے چه مونږ به د رسول الله ﷺ د مانځهٔ ختمول هغه وخت او پیژندل. کله چه به مونږ د تکبیر آواز واوریدهٔ. دے حدیث لره عمرو بن دینار د ابومعبد نه روایت کړے دے. عمرو ویلی دی. ما دوباره چه کله دے حدیث ذکر ابومعبد ته اوکړو. نو هغهٔ انکار اوکړو. او دائے اووے. ما تاته دا حدیث نهٔ دے بیان کړے. حالانکه هغوی ماته بیان کړے وو[2].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَفْعَ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ حِينَ يَنْصَرِفُ النَّاسُ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ كَانَ عَلٰى

د عبدالله بن عباس ؓ نه روایت دے چه د فرض مانځهٔ نه پس په اوچت آواز سره ذکر کول د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو. او ما چه

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی. چه په دے کښې د امام شافعی رحمه الله او جمهور سلفو او خلفو دلیل دے. چه هغه وائی د مانځهٔ نه پس دوه سلامونه کول پکار دی. او د امام مالک رحمه الله او د عالمانو د یو جماعت دا قول دے. چه بس یو سلام کول سنت دی. خو د هغوی دلیلونه ضعیف دی. او د صحیح احادیثو نه دوه سلامونه ګرځول ثابتیږی. او که چرے دا ثابت هم شی. نو په دے باندے به محمول کولے شی چه حضرت دادے دپاره کړی دی. چه په یو سلام باندے اقتصار کول جائز دی. اوس په دے باندے د عالمانو اجماع ده چه یو سلام واجب دے. مګر چه یو سلام کوی نو مخ به د قبلے په طرف باندے لری. او خوک چه دوه سلامونه کوی نو په اول وار سلام به مخ ښی طرفته کوی. او په دویم خل به مخ ګس طرفته اړوی. او په هر سلام کښې به دومره مخ ګرځوی. چه د یو طرف اتګے نے ښکاره شی هغه طرفته. دغه صحیح دے. او خنو ویلی دی چه دواړه اتګی ښکاره کړلے شی. او سلام د مانځهٔ یو رکن دے. چه د هغے نه بغیر مونځ نهٔ صحیح کیږی. د جمهور صحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله او علماؤ دغه قول دے. او د امام ابوحنیفه په نزد د سلام لفظ سنت دے. او د مانځهٔ نه بهر کیدے شی. په څهٔ کار د مانځهٔ نه په خلاف کولو سره کهٔ سلام وی یا کلام. کهٔ حدث وی یا قیام. انتهی

[2] اګر چه ابو معبد دوباره د دے حدیث د روایت نه انکار اوکړو. مګر عمرو بن دینار ثقه دے نو دا روایت د امام مسلم رحمه الله او جمهور فقهاؤ او د اهل حدیثو د مذهب په نزد به حجت وی.

عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ وَأَنَّهُ قَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُنْتُ أَعْلَمُ إِذَا انْصَرَفُوا بِذٰلِكَ إِذَا سَمِعْتُهُ

به کله ددغه ذکر آواز واوریدو نو معلومه به م کړه چه خلق د مانځهٔ نه فارغ شو [1].

بَاب اسْتِحْبَابِ التَّعَوُّذِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ جَهَنَّمَ وَفِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَفِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَمِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ

باب : د تشهد او د سلام په مینځ کښې د قبر د عذاب او د جهنم د عذاب او د ژوند او د مرګ او د مسیح دجّال د فتنې او د ګناه او د قرض نه د پناه غوښتلو بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدِي امْرَأَةٌ مِنَ الْيَهُودِ وَهِيَ تَقُولُ هَلْ شَعَرْتِ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي الْقُبُورِ قَالَتْ فَارْتَاعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ إِنَّمَا تُفْتَنُ يَهُودُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَلَبِثْنَا لَيَالِيَ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ شَعَرْتِ أَنَّهُ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي الْقُبُورِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ يَسْتَعِيذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ

د اُمُّ المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ځما خواله تشریف راوړو. او یوه یهودنړه ځما سره ناسته وه. هغې اووی تاسو ته معلومه ده. چه په تاسو به په قبر کښې ازمائش وی (یعنی ستاسو به امتحان وی او څوک چه په دغه امتحان کښې پاس نهٔ شی نو هغه لره به عذاب وی) دد ے په اوریدلو سره د رسول الله ﷺ اوربیدو. او اوئے ویل دا به د یهودو دپاره وی. حضرت عائشےؓ ویلی دی. بیا مونږ څو شپے تیرے کړے. د هغې نه پس رسول الله ﷺ اوفرمایل. چه تاته معلومه ده چه په ما باندے وحی نازله شوے ده چه په قبر کښې به په تاسو باندے ازموده وی. حضرت عائشےؓ ویلی دی. ما اوریدل چه د هغه ورځې نه به رسول الله ﷺ د قبر د عذاب نه پناه غوښتله

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی هغهٔ

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی دا دلیل دے د بعضے علماء سلفو چه هغه وائی د فرض مانځهٔ نه پس په اوچت آواز سره تکبیر ویل یا ذکر کول مستحب دی. او د متاخرینو نه ابن حزم ظاهری رحمه الله دے لره مستحب ګنړلی دی. ابن بطال او نورو علماو دا نقل کړے دے چه تول مذهب والا ذکر جهری لره مستحب نهٔ ګنړی. او امام شافعی رحمه الله دا ویلی دی چه کیدے شی رسول الله صلی الله علیه وسلم دا جهر خلقو ته د ښودنے دپاره کله کله کړے وی. نهٔ ددے دپاره چه جهر کول مستحب دی. یا خلق همیشه داسے کوی. او امام یا مقتدی په دواړو باندے لازم دی. چه د فرضو نه پس کهٔ چرے ذکر کوی نو رو دِ کوی. مګر کله چه امام خلقو لره تعلیم ورکول غواړی. نو د لږ ساعت دپاره جهر کولے شی. انتهٰی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ يَسْتَعِيْذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ

دے نه پس د قبر د عذاب نه پناه غوښتله

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَتْ عَلَيَّ عَجُوْزَانِ مِنْ عُجُزِ يَهُوْدِ الْمَدِيْنَةِ فَقَالَتَا إِنَّ أَهْلَ الْقُبُوْرِ يُعَذَّبُوْنَ فِيْ قُبُوْرِهِمْ قَالَتْ فَكَذَّبْتُهُمَا وَلَمْ أُنْعِمْ أَنْ أُصَدِّقَهُمَا فَخَرَجَتَا وَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقُلْتُ لَهٗ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ عَجُوْزَيْنِ مِنْ عُجُزِ يَهُوْدِ الْمَدِيْنَةِ دَخَلَتَا عَلَيَّ فَزَعَمَتَا أَنَّ أَهْلَ الْقُبُوْرِ يُعَذَّبُوْنَ فِيْ قُبُوْرِهِمْ فَقَالَ صَدَقَتَا إِنَّهُمْ يُعَذَّبُوْنَ عَذَابًا تَسْمَعُهُ الْبَهَائِمُ قَالَتْ فَمَا رَأَيْتُهٗ بَعْدُ فِيْ صَلَاةٍ إِلَّا يَتَعَوَّذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رض نه روایت دے چه خما خواله د مدینے والاؤ نه دوه یهودیانے بوډۍ زنانه راغلې. او دائے اووے چه د قبر خاوندان ته عذاب وی په قبرونو کښں. ما هغوی ته دروغجنے اووے. او ما ته هغوی رښتونی او نهٔ لګیدے. بیا هغه دواړه لاړے. او رسول الله ﷺ تشریف راوړو. ما هغهٔ ته بیان اوکړو کوم چه هغه بوډۍ ګانو کړے وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغوی رښتیا ویلی دی قبر والاؤ ته عذاب وی چه هغے لره څناورو اوریدے شی. حضرت عائشے رض ویلی دی چه د هغے نه پس ما اولیدل چه هغه به په هر مانځهٔ کښں د قبر د عذاب نه پناه غوښتله.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَعِيْذُ فِيْ صَلَاتِهٖ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ

د مؤمنانو مور حضرت عائشے رض نه روایت دے . ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه هغه به مانځهٔ کښں د دجّال د فتنے نه پناه غوښتله

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا تَشَهَّدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنْ أَرْبَعٍ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ

د ابوهریره رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کله چه څوک ستاسو نه په مانځهٔ کښں تشهد لولی. نو د څلورو څیزونو نه د پناه غواړی. وائی دے یا الله زهٔ پناه غواړم پتا سره د جهنم د عذاب نه. او د قبر د عذاب نه، او د ژوند او مرګ د عذاب نه او د دجال د فتنے نه

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَدْعُوْ فِي الصَّلَاةِ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ قَالَتْ فَقَالَ لَهٗ قَائِلٌ مَا أَكْثَرَ مَا تَسْتَعِيْذُ مِنَ الْمَغْرَمِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ إِنَّ الرَّجُلَ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په مانځهٔ کښں دا دُعا غوښتله یا الله ! زهٔ پناه غواړم پتا سره د قبر د عذاب نه . او زهٔ پناه غواړم پتا سره د دجال د فتنے نه او زهٔ پناه غواړم پتا سره د ژوند او مرګ د فتنے نه یا الله! زهٔ پناه غواړم پتا سره د ګناه او قرض دارۍ نه . یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ ! تهٔ اکثر د قرضدارۍ نه ولے پناه غواړے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل کله چه

إِذَا غَرِمَ حَدَّثَ فَكَذَبَ وَوَعَدَ فَأَخْلَفَ

سړے قرضدار ے شي نو دروغ وائي او وعده خلافي کوي[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الآخِرِ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ أَرْبَعٍ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر كله چه څوك ستاسو نه آخري تشهد اولولي. نو د څلورو څيزونو نه دے پناه غواړي. د جهنم د عذاب نه، او د قبر د عذاب نه، د ژوند او مرګ د عذاب نه. او د دجال د بدئ نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَشَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل يا الله زهٔ پناه غواړم په تاسره د قبر د عذاب نه. او د دوزخ د عذاب نه او د ژوند او مرګ د فساد نه او د دجال د بدئ نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُوذُوا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ اللهِ عُوذُوا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ عُوذُوا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ عُوذُوا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه پناه غواړئ په الله سره د الله د عذاب نه پناه غواړئ په الله تعالى سره د قبر د عذاب نه پناه غواړئ په الله سره د دجال د فتنے نه پناه غواړئ په الله سره د ژوند او مرګ د فتنے نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَتَعَوَّذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ جَهَنَّمَ وَفِتْنَةِ الدَّجَّالِ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به پناه غوښتله د قبر د عذاب نه او د دوزخ د عذاب نه او د دجال د فتنے نه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُولُ قُولُوا اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ

د ابن عباس نه روايت دے چه په تحقيق سره رسول الله ﷺ هغوئ ته ښودلي وو. لكه څنګه چه ئے ورته د قرآن سورتونه ښودل. چه وايه: چه اے الله مونږ پناه غواړو پتا سره ستا د دوزخ د عذاب نه او پناه غواړو پتا سره د قبر د عذاب نه او پناه غواړو پتا سره د دجال د فتنے نه او پناه غواړو پتا سره د ژوند او مرګ د فتنے نه مسلم بن

[1]: نو اګر چه قرضداري څهٔ ګناه نهٔ ده. خو د دے د وجے نه نور ګناهونه سرزد کيږي. په دے وجه د قرضدارئ نه پناه غواړئ. په حقيقت کښې قرضداري بده بلا ده. بنده له پکار دي چه بغير د سخت ضرورت نه قرض نهٔ اخلي. او سخت ضرورت دا دے چه د لوږے د وجے نه مړ کيږي. د دے نه سوا بل داسے ضرورت نشته چه د هغے دپاره د قرض په بلا کښې ګرفتار شي. او د وادهٔ او يا د غم رسمونه خو لغوه دي. د هغے دپاره مسلمان له قرض اخستل ضروري نهٔ دي.

مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ قَالَ مُسْلِم بن الْحَجَّاجِ بَلَغَنِي أَنَّ طَاوُسًا قَالَ لِابْنِهِ أَدَعَوْتَ بِهَا فِي صَلَاتِكَ فَقَالَ لَا قَالَ أَعِدْ صَلَاتَكَ لِأَنَّ طَاوُسًا رَوَاهُ عَنْ ثَلَاثَةٍ أَوْ أَرْبَعَةٍ أَوْ كَمَا قَالَ

حجاج ویلی دی . رارسیدلی دی ما ته چه طاؤس خپل خوئ ته اووی تا په مانځهٔ کښې دا دُعا اوغوښته؟ هغهٔ اووے نه ،طاؤس اووے خپل مونځ بیا اوکړه. په تحقیق سره طاؤس دے حدیث لره د دریوؤ یا څلورو راویانو نه روایت کړے دے. یا لکه چه ویلی دی[1].

بَاب اسْتِحْبَابِ الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ وَبَيَانِ صِفَتِهِ

باب : د مانځهٔ نه پس ذکر مستحب دے. او د ذکر د طریقے بیان

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَقَالَ اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ قَالَ الْوَلِيدُ فَقُلْتُ لِلْأَوْزَاعِيِّ كَيْفَ الْاسْتِغْفَارُ قَالَ تَقُولُ أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ

ثوبان ویلی دی چه رسول الله ﷺ چه به کله د مانځهٔ نه اوزګاریدو نو درے خله به ئے استغفار ویلو او ویل به ئے اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ولید د اوزاعی نه تپوس اوکړو اسغفار څنګه ؟ هغهٔ اووے. استغفرا الله استغفرا الله ویلو ته. یعنی زهٔ د الله نه مغفرت غوارم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُولُ اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ نُمَيْرٍ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ وحَدَّثَنَاه ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ يَعْنِي الْأَحْمَرَ عَنْ عَاصِمٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

د مؤمنانو مور حضرت عائشے نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ چه به کله د مانځهٔ سلام اوګرځوو نو ئه به کیناستو مګر دومره قدرے چه اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ به ئے د آخره پوری اووے . او خاص ستا نه سلامتی ده یعنی د ټول عالم . او اے بزرګئ او عزت والا ته لوئے برکت والائے . او د ابن نُمیر په روایت کښې یَا ذَاالْجَلَال دے.

عَنْ وَرَّادٍ مَوْلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ كَتَبَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ إِلَى مُعَاوِيَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا

د وراد نه چه د مغیره بن شعبه مولی دے روایت دے چه مغیره بن شعبه حضرت معاویه ته لیکلی اولیږل چه رسول الله ﷺ چه به کله مونځ اوکړو او سلام به ئے اوګرځوو. نو ویل به ئے د لَا اِلٰهَ نه د آخره

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی چه د طاؤس دا دے قول نه دا دے دُعا د لوستول ډیر تاکید ثابت شوے دے. او په ظاهره ترنه دا خبره وتلے ده چه دا دے دُعا لوستل واجب دی کله چه هغه د مانځهٔ د دوباره کولو حکم ورکړو. لیکن د اکثرو علماؤ دا مذهب دے چه دا دُعا واجب نهٔ ده. بلکه مستحب ده او کیدے شی د طاؤس غرض تاکید وو نه وُجوب. انتهٰی

فَرَغَ مِنَ الصَّلاَةِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اَللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ

پورے. يعنى څوك ربښتونے معبود نشته مگر د الله يواځے دے. يو دے. هغهٔ لره څوك شريك نشته دے. خاص هغهٔ لره بادشاهى ده او هغهٔ لره ثنا ده. او هغه هر څهٔ كولے شى يا الله هغه څوك نهٔ شى منع كولے چا لره چه تهٔ وركړه كوے. او چا لره چه تهٔ نهٔ وركوے هغهٔ لره څوك نهٔ شى وركولے. او د چا كوشش ستا په مخ كښں نفع نهٔ وركوى.

عَنْ وَرَّادٍ مَوْلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ عَنِ الْمُغِيرَةِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَأَبُو كُرَيْبٍ فِي رِوَايَتِهِمَا قَالَ فَأَمْلاَهَا عَلَيَّ الْمُغِيرَةُ وَكَتَبْتُ بِهَا إِلَى مُعَاوِيَةَ

د وراد نه چه د مغيره بن شعبهؓ آزاد كړے غلام وو روايت دے او مغيره د پور ته روايت په شان د نبى كريم ﷺ نه رواوى دے. او ابوبكر او ابوكريب په خپلو روايتونو كښں ويلى دى چه وراد وائى چه ماته مغيره اوښودله او ما دے دُعا لره حضرت معاويهؓ ته ليكلے اوليږله

عَنْ عَبْدَةَ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ أَنَّ وَرَّادًا مَوْلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ كَتَبَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ إِلَى مُعَاوِيَةَ كَتَبَ ذَلِكَ الْكِتَابَ لَهُ وَرَّادٌ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ حِينَ سَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا إِلاَّ قَوْلَهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ فَإِنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ

عبده بن ابولبابه ويلى دى چه مغيرهؓ د وراد په لاس سره معاويهؓ ته ليكلى اوليږل چه ما اوريدلى دى د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلى ئے وو هر كله چه په سلام ئے ګرځولو د مانځهٔ نه. په شان د ابوبكر او ابوكريب د روايت مگر په هغے كښں ئے وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لره نهٔ دے ذكر كړے.

عَنْ عَبْدَةَ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ وَعَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ سَمِعَا وَرَّادًا كَاتِبَ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يَقُولُ كَتَبَ مُعَاوِيَةُ إِلَى الْمُغِيرَةِ اكْتُبْ إِلَيَّ بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا قَضَى الصَّلاَةَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اَللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ

عبده او عبد الملك دواړو د وراد نه چه منشى وو د مغيرهؓ. اوريدلى دى چه مُعاويهؓ مغيره ته اوليكل چه ما ته يوه داسے دُعا ليكلى راوليږه چه هغه تا اوريدلى وى. د رسول الله ﷺ نه. نو هغوى ليكلى اوليږل. چه ما اوريدلى دى د رسول الله ﷺ نه چه لوستله به ئے كله چه به د مانځهٔ نه اوزګار شو. د لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ نه واخله د آخره پورے. او ترجمه د دے دُعا پورته تيره شوے ده.

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ ابْنُ الزُّبَيْرِ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ حِينَ يُسَلِّمُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ وَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهَلِّلُ بِهِنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ

د ابو الزبير نه روايت دے چه ابن الزبير به هميشه د هر مانځهٔ نه پس د سلام ګرځولو په وخت د لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ نه واخله د كَافِرُونَ پورے لوستلو. يعنی څوك معبود د عبادت لائق نشته سوا د الله نه دهغهٔ څوك شريك نشته هغهٔ لره بادشاهی ده. او هغهٔ لره ثنا ده او هغه تول هر څهٔ كولے شی. او نهٔ د ګناه نه د بچ كيدو طاقت او نهٔ د عبادت كولو قوت شته مګر د الله سره. نشته دے څوك معبود لائق د عبادت سوا د الله نه او مونږ عبادت نهٔ كوو مګر هغهٔ لره. هغهٔ لره دے تول احسان او هغهٔ لره ده توله بزرګی او د هغهٔ دپاره دے ښهٔ تعريف. نشته دے څوك معبود د عبادت لائق مګر الله مونږ صرف د هغهٔ عبادت كونكی يو اګر چه كافر ئے بد ګنړلی. او ويلی دی راوی ابن زبير چه رسول الله ﷺ به د هر مانځهٔ نه پس دا دُعا لوستله

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ مَوْلًى لَهُمْ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ كَانَ يُهَلِّلُ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ وَقَالَ فِي آخِرِهِ ثُمَّ يَقُولُ ابْنُ الزُّبَيْرِ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهَلِّلُ بِهِنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ

د ابی الزبير نه چه مولی دے د هغهٔ ، روايت دے چه عبدالله بن زبير د دے دُعا سره يعنی كومه چه پورته ذكر شوه به د هر مانځهٔ نه پس خپل آواز اوچتولو . لكه په شان د ابن نمير د روايت. او د هغې په آخر كښې ئے دا ويلی دی چه ابن الزبير ويلی دی چه رسول الله ﷺ به د هر مانځهٔ نه پس په اوچت آواز سره دا لوستلو[1].

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ يَخْطُبُ عَلَى هَذَا الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سَلَّمَ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ أَوِ الصَّلَوَاتِ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ

ابی الزبير ويلی دی چه ما د عبد الله بن زبير نه اوريدلی دی چه هغهٔ خطبه لوستله په هغه منبر باندے . او اوئے ويل. چه رسول الله ﷺ چه به كله سلام اوګرځوو نو د هر مانځهٔ په آخر كښې به ئے ويل. او بيائے د هشام بن عروه د روايت په شان حديث بيان كړو[2].

عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ أَنَّ أَبَا الزُّبَيْرِ الْمَكِّيَّ

د موسیٰ بن عُقبه نه ابوالزبير مكی بيان كړے دے چه هغوی د

---

[1] د ابن نمير روايت هغه دے كوم چه اوس پورته تير شو.

[2] د هشام روايت هغه دے كوم چه د ابوالزُبير نه پورته ذكر شوے دے. چه په هغې كښې دُعا ذكر ده.

حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَهُوَ يَقُولُ فِي إِثْرِ الصَّلَاةِ إِذَا سَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا وَقَالَ فِي آخِرِهِ وَكَانَ يَذْكُرُ ذٰلِكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلَى وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ فَقَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ وَيَتَصَدَّقُونَ وَلَا نَتَصَدَّقُ وَيُعْتِقُونَ وَلَا نُعْتِقُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَلَا أُعَلِّمُكُمْ شَيْئًا تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ وَتَسْبِقُونَ بِهِ مَنْ بَعْدَكُمْ وَلَا يَكُونُ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ إِلَّا مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ تُسَبِّحُونَ وَتُكَبِّرُونَ وَتَحْمَدُونَ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ مَرَّةً قَالَ أَبُو صَالِحٍ فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الْأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا فَفَعَلُوا مِثْلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَزَادَ غَيْرُ قُتَيْبَةَ فِي هٰذَا الْحَدِيثِ عَنِ اللَّيْثِ عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ قَالَ سُمَيٌّ فَحَدَّثْتُ بَعْضَ أَهْلِ هٰذَا الْحَدِيثِ

عبد الله ابن زبیرؓ نه اوریدلی دی چه هغه ویلی وو. چه د هر مانځهٔ نه پس چه به ئے کله سلام اوګرځوو دغه دُعا به ئے لوستله کومه چه هشام او حجاج د ابوزبیر نه روایت کړے ده. او د هغې په آخر کښ ئے اووے چه هغه دے دُعا لره د رسول الله ﷺ نه ذکر کوله.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه فقراء مهاجرین د حضرت ﷺ په خدمت کښې راغلل. او عرض ئے اوکړو چه مالدار خلق په اوچتو درجو باندے اورسیدل. او د همیشه نعمتونه ئے لوټ کړل. حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے؟ هغوی عرض اوکړو چه هغه مونږ کوی دغه شان مونږ هم کوو. هغه روژے نیسی دغه شان مونږ هم نیسو. او هغه صدقه ورکوی او مونږ صدقه نهٔ شو ورکولے. او هغه غلامان ازاد وی او مونږ نهٔ شو ازادولے. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل زهٔ به تاسو ته داسے څیز اوښایم چه څوك ستاسو نه مخکښې وی. هغوی لره به تاسو اومومئ او د ځان نه د روستو خلقو نه همیشه مخکښې اوسیږئ. او څوك به ستاسو نه په درجه کښې وړاندے نهٔ وی. مګر هغه چه څوك دا کار کوی کوم چه تاسو کوئ. هغوی اووے چه حقه خبره ده یا رسول اللهؐ. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه تسبیح او تکبیر او تحمید کوئ د هر مانځهٔ نه پس درے دیرش ځله. ابو صالح ویلی دی بیا مهاجرین د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلل او عرض ئے اوکړو چه زمونږ هغه رونړو واوریدله کوم چه د مال خاوندان دی زمونږ دے دُعا لره. او هغوی هم لوستل شروع کړی لکه چه مونږه ئے لولو. بیا هغهٔ اوفرمائیل چه د الله فضل دے چا لره چه اوغواړی ورکوی (یعنی په دی امر کښې خما څهٔ اختیار دے) نورو د قتیبه نه په دے روایت کښې دا زیات کړل چه د لیث بن عجلان نه روایت

فَقَالَ وَهِمْتَ إِنَّمَا قَالَ تُسَبِّحُ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِيْنَ وَتَحْمَدُ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِيْنَ وَتُكَبِّرُ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِيْنَ فَرَجَعْتُ إِلَى أَبِي صَالِحٍ فَقُلْتُ لَهُ ذٰلِكَ فَأَخَذَ بِيَدِي فَقَالَ اللهُ أَكْبَرُ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ اللهُ أَكْبَرُ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ حَتّٰى تَبْلُغَ مِنْ جَمِيْعِهِنَّ ثَلَاثَةً وَثَلَاثِيْنَ قَالَ ابْنُ عَجْلَانَ فَحَدَّثْتُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ رَجَاءَ بْنَ حَيْوَةَ فَحَدَّثَنِي بِمِثْلِهِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُوْرِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلٰى وَالنَّعِيْمِ الْمُقِيْمِ بِمِثْلِ حَدِيْثِ قُتَيْبَةَ عَنِ اللَّيْثِ إِلَّا أَنَّهُ أَدْرَجَ فِي حَدِيْثِ أَبِي هُرَيْرَةَ قَوْلَ أَبِي صَالِحٍ ثُمَّ رَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِيْنَ إِلٰى آخِرِ الْحَدِيْثِ وَزَادَ فِي الْحَدِيْثِ يَقُوْلُ سُهَيْلٌ إِحْدٰى عَشْرَةَ إِحْدٰى عَشْرَةَ فَجَمِيْعُ ذٰلِكَ كُلِّهِ ثَلَاثَةٌ وَثَلَاثُوْنَ

دے. چه سُمَیؒ ویلی دی چه ما دا حدیث خپل یو کور والا ته بیان کړو. نو هغوی اووے. چه ستا هیر شول په دے روایت کښې داسے دی. چه تسبیح کوے نو د الله درے دیرش ځله او تحمید کوے نو د الله درے دیرش ځله بیا زۀ د ابوصالح خواله لاړمه او ما هغۀ ته ددے ذکر اوکړو. نو هغوی ځما لاس اونیوو او اوئے ویل د الله اکبر نه د اَلْحَمْدُ لِلّٰه پورے به درے دیرش ځله وائی. یعنی الله لوئے دے او پاک دے الله او ټول تعریف الله لره دے. او الله لوئے دے او پاک دے الله او ټول د هغۀ دپاره دی. ابن عجلان وائی ما دا حدیث رجاء بن حیوه ته بیان کړو نو هغوی ددے په مثل ماته روایت اوکړو د ابی صالح نه هغوی د ابوهریرهؓ نه هغوی د رسول اللهﷺ نه

ابوهریرهؓ راوی دے چه فقراء مهاجرینو عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ مال والا په اوچتو درجو باندے اورسیدل او د همیشه نعمتونه ئے واخستل. غرض دا چه روایت کړے دے هغوی په مثل د حدیث قتیبه چه د لیث نه مروی دے. مګر دومره بحث هغوی مدرج کړے (ادراج دا دے چه د راوی قول د چا په روایت کښې میلاؤ کړی) د ابوهریرهؓ په روایت کښې د ابوصالح د قول نه چه بیا واپس راغلل فقراء مهاجرین د آخر حدیثه پورے او زیات کړی ئے دی په حدیث کښې چه سهیل ویلی دی چه هر کله یولس یولس ځله اووائی چه ټول یو ځائے کړے درے دیرش ځله به شی[1].

[1] د سهیل رضی الله عنه په روایت کښې یولس ځله کلمه راغلے ده دا د نورو روایتونو منافی نه دے په کومو کښې چه د درے دیرش ځله ذکر دے بلکه په کومو روایتونو کښې چه درے دیرش ځله راغلے دے هغه د معتبرو راویانو زیاتوالے دے او زیاتوالے د ثقو معتبر او مقبول دے. بلکه ځنو راویانو پوره سل سل ځله لوستلو لره روایت کړے دے. او هغه زیاتوالے هم قابل قبول دے. او په یو روایت کښې تبیر خلور دیرش ځله راغلے دے. او هغه هم قابل قبول دے. او کۀ چرے احتیاط منظور وی نو تسبیح او تحمید لره درے

عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ أَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَسْبِيحَةً وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَحْمِيدَةً وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ تَكْبِيرَةً

د كعب بن عجرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي د مانځهٔ نه روستو څهٔ داسے دُعاگانے د لوستولو دي چه دهغے لوستونکے يا د هغے په ځائے راوړونکے د هر فرض مانځهٔ نه پس چرته (د ثواب نه يا اوچتو درجو نه) نهٔ محروم كيږي. درے ديرش خله سُبحٰن الله درے ديرش خله اَلْحَمْدُ لله او څلور ديرش خله الله اكبر ويل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّحَ اللهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَحَمِدَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَكَبَّرَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ وَقَالَ تَمَامَ الْمِائَةِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي چه څوك د هر مانځهٔ نه پس سُبحٰن الله درے ديرش خله او اَلْحَمْدُ لله درے ديرش خله الله اكبر درے ديرش خله اووائي نو دا يو كم سل كلمے شوے. او پوره سل به ئے داسے كړي چه يو ځل به د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله نه د قَدِيرٌ پورے اولولي (يعني څوك معبود د عبادت لائق نشته مگر الله دے. يو دے هغهٔ لره څوك شريك نشته دے هغهٔ لره بادشاهي ده او هغهٔ لره تعريفونه دي او هغهٔ په هر څيز باندے قادر دے) نو د هغهٔ گناهونه اوبخلے شي اگر كهٔ د درياب د زك برابر وي (يعني بے حده زيات وي).

بَابُ مَا يُقَالُ بَيْنَ تَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ وَالْقِرَاءَةِ

باب: د تكبير تحريمه او د قرأت د مينځ د دُعاگانو بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ فِي الصَّلَاةِ سَكَتَ هُنَيَّةً قَبْلَ أَنْ يَقْرَأَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَرَأَيْتَ سُكُوتَكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ مَا تَقُولُ قَالَ أَقُولُ اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ

ابوهريرهؓ وئيلي دي چه رسول اللهﷺ كله چه به تكبير تحريمه اووے نو لږ ساعت به خاموش وو. بيا به ئے قراءت كوو نو ما عرض اوكړو چه يا رسول اللهﷺ څما مور پلار د ستا نه قربان وي. زهٔ وينم چه تهٔ تكبير او قراءت په مينځ كښې چپ كيږے نو تهٔ څهٔ وائے؟ حضرتﷺ اوفرمائيل چه زهٔ وايم د اَللّٰهُمَّ نه د آخره پورے (يعني) يا الله لرے كړے ما لره څما د گناهونو نه لكه چه لرے كړے دے تا مشرق لره د مغرب نه. يا الله صفا كړے ما لره څما د خطاگانو نه

ديرش درے ديرش خله او تكبير لره د څلور ديرش خله وائي. او په آخر كښې د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ د آخره پورے اولولي. چه په ټولو روايتونو باندے عمل اوكړے شي. دا مضمون دے د نووي.

الدَّنَسِ اَللّٰهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ

لکه چه پاکه وی سپینه کپړه د خیرونه. یا الله! او وینځے څما گناهونو لره په واوره سره او په اوبو سره او په ګلئ سره[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَلَمْ يَسْكُتْ

حضرت ابوهریرهؓ ویلی دی. رسول الله چه به کله دویم رکعت اوکولو او اودریدو به نو د اَلْحَمْدُ نه به ئے قراءت شروع کولو. او چُپ به نه پاتے کیدو (یعنی دُعائے استفتاح به ئے نه لوسته)

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ فَدَخَلَ الصَّفَّ وَقَدْ حَفَزَهُ النَّفَسُ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ قَالَ أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ فَقَالَ أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِهَا فَإِنَّهُ لَمْ يَقُلْ بَأْسًا فَقَالَ رَجُلٌ جِئْتُ وَقَدْ حَفَزَنِي النَّفَسُ فَقُلْتُهَا فَقَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا

د انسؓ نه روایت دے چه یو سړے راغے او د مانځهٔ په صف کښ داخل شو او په هغهٔ باندے ساه بندی راغلهٔ نو هغهٔ اووے د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نه د مبارکاً فِیْهِ پورے (یعنی ټول تعریف د الله دپاره دے ډیر تعریف او پاك او برکت والا) بیا چه هر کله رسول اللهﷺ مونځ اولوستو نو اوئے فرمائیل. دا ویلو والا څوك وو چا چه دا کلمات اووے؟ پس د قوم خلق ټول غلی شو. بیا هغهٔ اووے. چا اوویل دا کلمات ولے چه هغه خو څهٔ بده خبره نهٔ ده کړے. نو یو سړی عرض اوکړو چه زهٔ راغلم او په ما ساه بندی راغله نو ما دے کلماتو لره اووے. حضرتﷺ اوفرمائیل ما دولس فرښتو لره اولیدے چه یو په یو یعنی پرله پسے راکوزیدلے. چه څوك به په هغوی کښ دغے وینا لره پورته ویسی (یعنی د خداوند تعالی خواله)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا وَسُبْحَانَ اللهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

د ابن عمرؓ نه روایت دے چو مونږ د رسول اللهﷺ سره مونځ لوستلو. یو سړی د حاضرینو نه اووے د الله اکبر نه د اَصِیْلًا پورے (یعنی الله لوئے دے. ټوله لوئی الله لره ده او ډیر تعریف دے هغهٔ لره. او پاك دے الله. پاکی ویل دی سحر او مابنام) بیا رسول اللهﷺ

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی دلیل دے دا روایت د امام شافعی رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله او د جمهورو چه هغه ټولے دُعائے افتتاح لره مستحب گنړی. او په دے باب کښ ډیر زیات احادیث راغلی دی. په هغے کښ دا حدیث هم دی. او حدیث د حضرت علی رضی الله چه په هغے کښ د اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلّٰهِ دُعا مذکوره ده ذکر کړے دے. هغه مسلم رحمه الله دنے نه پس ابواب صلٰوة واللیل وغیره کښ او ددے نه سوا نور روایتونو نه دی او ما هغے لره په شرح مهذب کښ جمع کړی دی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ الْقَائِلُ كَلِمَةَ كَذَا وَكَذَا قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ عَجِبْتُ لَهَا فُتِحَتْ لَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَمَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ذَلِكَ

اوفرمائیل چه چا دا کلمے اووے؟ نو د قوم نه یو سړی عرض اوکړو. چه ما اووے یا رسول اللهؐ. نو حضرتؐ اوفرمائیل زهٔ حیران شوم ددهٔ دپاره د اسمان دروازے کهولاؤ شوے. ابن عمرؓ ویلی دی چه د کله نه دا خبره ما د رسول اللهؐ نه اوریدلے ده ما دغه کلمات پریخودی چرته نهٔ دی.

بَاب اسْتِحْبَابِ إِتْيَانِ الصَّلَاةِ بِوَقَارٍ وَسَكِينَةٍ وَالنَّهْيِ عَنْ إِتْيَانِهَا سَعْيًا

باب: مانځهٔ ته په وقار او په آرام سره د راتلو بیان. او په منډه د راتلو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ وَأْتُوهَا تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا

ابوهریرهؓ ویلی دی چه ما د رسول اللهؐ نه اوریدلی دی چه هغهٔ فرمایلی وو کله چه مونځ شروع شی. نو په منډو منډو مهٔ راځئ بلکه په سکون سره په آرام باندے راځئ او کوم چه د امام سره اوموموئ هغه ادا کړئ او کوم چه فوت شی هغے لره پوره کوئ[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا ثُوِّبَ لِلصَّلَاةِ فَلَا تَأْتُوهَا وَأَنْتُمْ تَسْعَوْنَ وَأْتُوهَا وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ فَمَا

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهؐ فرمایلی دی چه هر کله تکبیر اوکړے شی د فرض مانځهٔ نو په منډه سره مهٔ راځئ. بلکه په سکون او آرام سره راځئ کوم چه اونیسئ هغه ادا کړئ او کوم چه

---

[1]: نووی رحمه الله ویلی دی د ټولو مونځونو دغه حکم دے. جمعه وی یا غیر جمعه. او الله تعالی چه کوم فرمائیلی دی فَاسْعَوْا اِلٰی ذِكْرِ اللهِ. هلته هم د سعی نه مراد په پلاره تلل دغه دی. او د منډے نه ئے منع خکه اوفرمایله چه کله ئے د مانځهٔ اراده اوکړه نو لکه چه په مانځهٔ کښ داخل شو. پس ضروری ده چه د هغے د ادابو لحاظ اوساتی. ددغے دپاره په یو روایت کښ دا مضمون هم راغلے دے. چه کله تاسو د مانځهٔ اراده اوکړئ په مانځهٔ کښ شوئ او دا چه ئے کوم فرمائیلی دی. چه کوم او نهٔ مومئ هغے لره پوره کوئ په دے سره تنبیه اوشوله چه کهٔ چرے د مانځهٔ د قضاء کیدو یره وی. بیا هم په وقار او آرام سره راتلل پکار دی. منډے ترړے وهل ضروری نهٔ دی. او اکثر عوام بلکه خواص هم ددے نه غافل دی. او د امام شافعی رحمه الله او د جمهور علمائے سلفو او خلفو قول دے چه کوم د امام سره مسبوق مونځ ادا کړو هغه اوله حصه د مونځ ده. او کومه چه د امام د سلام نه پس ادا کوی هغه ئے آخری حصه ده. او د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب ددے نه خلاف دے چه هغه د امام د سلام گرځولو نه پس باقی مانځهٔ ته اول مونځ وائی. خکه په آخرو رکعتونو کښ سورة لولی. او قوی دغه مذب اول دے. او دا چه کوم په روایت کښ راغلی دی وَاقْضِ مَا سَبَقَكَ دلته قضاء په معنی د اداء ده. دغه جواب جمهورو حنفیؤ لره ورکړے دے. نهٔ دا چه هغه مونځ قضاء د جزی اول دے. چنانچه عرب وائی. قَضَيْتُ حَقَّ فُلَانٍ یعنی ما د خلانی حق ادا کړو.

أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ يَعْمِدُ إِلَى الصَّلَاةِ فَهُوَ فِي صَلَاةٍ

فوت شی هغه پوره کړئ. ځکه چه کله څوك ستاسو نه د مانځهٔ اراده اوکړی نو هغه په مانځهٔ کښې حساب دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَلَا يَسْعَ إِلَيْهَا أَحَدُكُمْ وَلَكِنْ لِيَمْشِ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ وَالْوَقَارُ صَلِّ مَا أَدْرَكْتَ وَاقْضِ مَا سَبَقَكَ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کله چه د مانځهٔ تکبیر اوشی. نو ستاسو نه دِ څوك په منډه سره نهٔ راځی. لیکن په قلاره آرام آرام سره دِ راځی. او عزت سره او دِ کوی دِ هغه کوم چه اوموندی او ادا کړی هغه کوم چه مخکښې امام کړے دے. هغه دِ پوره کړی (روسته).

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ جَلَبَةً فَقَالَ مَا شَأْنُكُمْ قَالُوا اسْتَعْجَلْنَا إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ فَلَا تَفْعَلُوا إِذَا أَتَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا سَبَقَكُمْ فَأَتِمُّوا

عبد الله بن ابوقتادهؓ ویلی دی چه د هغهٔ پلار وائی چه مونږ د رسول اللهﷺ سرهمونځ لوستلو چه هغه د خلقو ګړبړ واوریدو. نو اوئے فرمائیل (یعنی د مانځهٔ نه پس) چه څهٔ حال دے ستاسو. هغوی عرض اوکړو. چه مونږ د مانځهٔ دپاره تادی کوله حضرتﷺ اوفرمائیل داسے مهٔ کوئ. کله چه تاسو مانځهٔ له راځئ نو په آرام سره راځئ. او بیا چه کوم تاسو اوموَمئ هغے لره ادا کړئ او کوم چه فوت شوے وی پوره کړئ بیا هغے لره.

بَاب مَتَى يَقُومُ النَّاسُ لِلصَّلَاةِ

باب : د مانځهٔ دپاره به مونځ کونکی کله اودریږی

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي وَقَالَ ابْنُ حَاتِمٍ إِذَا أُقِيمَتْ أَوْ نُودِيَ

ابوقتادهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه کله د مانځهٔ تکبیر اوشی. نو مهٔ اودریږئ تاسو تر هغے پورے چه ما اونهٔ وینئ. ابن حاتم شك کړے دے چه إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلٰوةُ دے یا نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ دے[1]

---

[1] یعنی د مخکښې نه د مانځهٔ دپاره مهٔ اوریږئ چه کیدے شی خما په راوتو کښې وخت تیر شو او تاسو ته تکلیف شی. سبحٰن الله په مونږ باندے د نبی اُمّیﷺ څومره شفقت دے. ددے نه معلومه شوه چه کله امام حاضر شی هغه وخت دِ تکبیر اوکړے شی. او د شافعیۆ مذهب دادے چه د کومے پورې مؤذن د اقامت نه فارغ شوے نهٔ وی د هغے پورے دِ څوك نهٔ اودریږی. او د عامو علماؤ مذهب دے چه کله مؤذن تکبیر شروع کړی نو ټول خلق دِ اودریږی. او د حضرت انس رضی الله عنه عادت وو چه کله به مؤذن قد قامت الصلٰوة اووے هله به اودریدو. او د ابوحنیفه رحمه الله قول دے. او د کوفیانو چه د حی علی الصلٰوة په وخت اودریږی. او د

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَقُمْنَا فَعَدَّلْنَا الصُّفُوفَ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا قَامَ فِي مُصَلَّاهُ قَبْلَ أَنْ يُكَبِّرَ ذَكَرَ فَانْصَرَفَ وَقَالَ لَنَا مَكَانَكُمْ فَلَمْ نَزَلْ قِيَامًا نَنْتَظِرُهُ حَتَّى خَرَجَ إِلَيْنَا وَقَدِ اغْتَسَلَ يَنْطُفُ رَأْسُهُ مَاءً فَكَبَّرَ فَصَلَّى بِنَا

ابوهریرهؓ وېلي دي چه يو ځل د مانځهٔ تکبير اوشو او مونږ صفونه برابر کړل د حضرت ﷺ د راوتو نه مخکښې. بيا حضرت ﷺ راووتو. تر دې پورې چه کله په خپل ځائې بانده اودرېدهٔ. اوس لا تکبير تحريمه نهٔ وو شوی چه هغهٔ ته يا شو او کور ته واپس لاړو او مونږ ته ئې اوفرمائيل چه په خپل خپل ځائې اودرېږئ. مونږ ټول د هغهٔ په انتظار ولاړ وو تر هغې پورې چه هغه راووتو. او د سَر مبارك نه ئې اوبهٔ څڅېدې. بيائې تکبير اووې. او زمونږ سره ئې مونځ اوکړو[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَصَفَّ النَّاسُ صُفُوفَهُمْ وَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ مَقَامَهُ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِمْ بِيَدِهِ أَنْ مَكَانَكُمْ فَخَرَجَ وَقَدِ اغْتَسَلَ وَرَأْسُهُ يَنْطُفُ الْمَاءَ فَصَلَّى بِهِمْ

ابوهريرهؓ وېلي دي چه يو ځل د امنځهٔ تکبير اووېلې شو او خلقو صفونو لره جوړ کړل او رسول الله ﷺ راووتو او په خپل ځائې کښې اودريدلو. بيائې مونږ ته په لاس سره اشاره اوکړه چه په خپلو ځايونو بانده اودرېږئ او هغهٔ د صف نه اووتهٔ او غسل ئې اوکړو. او د سر نه ئې اوبهٔ څڅېدې. او بيائې د ټولو خلقو سره مونځ اوکړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ تُقَامُ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ فَيَأْخُذُ النَّاسُ مَصَافَّهُمْ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَامَهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دې چه د مانځهٔ تکبير به د رسول الله ﷺ په واسطه وېلې کېدلو. او خلقو به په صفونو کښې خپل ځائې اخستلو. مخکښې د دې نه چه حضرت ﷺ به په خپل ځائې بانده اودرېدو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ بِلَالٌ يُؤَذِّنُ إِذَا دَحَضَتْ فَلَا يُقِيمُ حَتَّى يَخْرُجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا خَرَجَ أَقَامَ الصَّلَاةَ حِينَ يَرَاهُ

جابرؓ وېلي دي بلالؓ چه کله به زوال اوشو نو آذان ئې کولو. او اقامت به ئې نهٔ کولو تر هغې پورې چه حضرتﷺ به تشريف راوړو. کله چه به هغه تشريف راوړو او بلالؓ به اوليدو نو بيا به ئې تکبير کولو[2].

قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة په وخت امام تکبير تحريمه تړی. او د جمهورو علماؤ د سلفو او خلفو پورې دا قول دې. چه مؤذن د کومې پورې د تکبير نه فارغ شوې نهٔ وی. د هغه وخت پورې د تکبير تحريمه نهٔ شي تړلې. نووی رحمه الله دغه شان ليکلي دی.

[1] کېدې شي چه ددغې نه پس حضرت ﷺ دا فرمائيلي وی چه د کومې پوری ما او نهٔ وينئ د هغې پورې مهٔ اودرېږئ. او ددی نه معلومه شوه چه تکبير دوباره نهٔ شي وېلې. غرض دا چه ثابته شوه عدم اعاده د تکبير د داسې وقعاتو نه او معلومه شوه چه په عباداتو کښې د انبياؤ عليهم السلام نه هم هېر راتلې شي. چه لوازم د بشريت نه دې.

[2] نووی رحمه الله وېلي دي چه اضي عياض رحمه الله وېلي دي چه بلال رضی الله به کتلو د حضرت راوتلو ته او نورو خلقو به نهٔ کتلو هر. کله چه به حضرت بلال رضیٰ الله عنه ته معلومه شوه چه حضرت صلی الله عليه وسلم تشريف راوړې نو هغوی به تکبير شروع

بَابُ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ أَدْرَكَ تِلْكَ الصَّلَاةَ

باب : چا چه د مانځهٔ یو رکعت لاندے کړو هغهٔ مونځ لاندے کړو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ

ابوهریرهؓ وایی دی چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چا چه و رکعت د څهٔ مانځهٔ لاندے نو هغهٔ هغه مونځ لاندے کړو[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ مَعَ الْإِمَامِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ

ابوهریرهؓ وایی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه چا د امام سره و رکعت اوموندو .په تحقیق سره هغهٔ هغه مونځ اوموندو[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الْعَصْرَ

ابوهریرهؓ وایی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه چا ته د سحر یو رکعت میلاؤ شو مخکښ د ختلو د نمر نه هغهٔ ته د سحر مونځ میلاؤ شو . او چا ته چه یو رکعت د مازیګر میلاؤ شو مخکښ د ډوبیدو د نمر نه. هغهٔ ته مازیګر میلاؤ شو[3].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د مؤمنانو مور حضرت عائشےؓ فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ

کړو او خلقو چه به کله حضرت صلی الله علیه وسلم لره اولیدو نو اودریدل به. او په خپل خپل ځائے به برابر شو. بیا چه به هر کله صفونه برابر شو حضرت صلی الله علیه وسلم به خپل ځائے ته تشریف راوړلو او مونځ به ئے شروع کړو او ددے خلاف چه کوم ځائے مروی وی هغه به قضیه اتفاقیه وی. ي ابه د جواز په وجه بیان وی.

[1] : ددے حدیث نه څو مسئلے معلومے شوے. اول دا چه چا د یو رکعت د لوستو موافق وخت اوموندلو د یو مانځهٔ مثلاً کافر دغه وخت اسلام راوړو. یا هلك بالغ شو یا لیونے عاقل شو یا حائضه ښځه د حیض نه پاکه شوه نو دغه مونځ په هغهٔ باندے فرض شو. دویمه دا چه چا یو رکعت د امام سره اولوستلو هغه د جماعت فضیلت لره اوموندهٔ. اوس کهٔ چرے د جمعے مونځ وو نو یو رکعت به به اوکړی او ماسپخین د هغهٔ نه ساقط شو. دریمه دا چه یو رکعت چا د نمر د راختو نه مخکښ اوکړو یا ئے مخکښ د نمر د ډوبیدو نه ادا کړلو. او روستو د هغے نه نمر رااوختو یا پریوتو. نو هغهٔ ته مونځ د سحر یا د مازیګر میلاؤ شو. باقی پاتے مونځ به ادا کړی او قضاء نهٔ شو.

[2] : چا چه یو رکعت اوموندو هغهٔ تول مونځ اوموندو. لکه چه د عبید الله په روایت کښ دی. ددے دا مطلب نهٔ دے. چه اوس به باقی رکعتونه هډو نهٔ ادا کوی داسے خو د مسلمانو د اجماع خلاف ده. بلکه مراد هغه دے کوم چه مونږ پورته بیان کړو چه هغهٔ ته د کاملے جمع ثواب میلاؤ شو. یا هغه مونځ په هغهٔ باندے فرض شو یا ادا شو قضاء نهٔ شو. او باقی رکعتونه به ضرور ادا کوی. کذا قال النووی رحمه الله

[3] مطلب ددی مونږ پورته بیان کړلو . او خلاصه داده چه مثلاً چا د سحر د مانځهٔ یو رکعت د نمر د راختلو نه مخکښ اوکړو او یو رکعت ئے د نمر د راختو نه روستو ادا کړلو نو مونځ د هغهٔ صحیح شو او باطل نهٔ شو. دغه مذهب دے د امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله او د ټولو علمائے سلف او خلف. او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز د سحر مونځ کولو په دوران کښ د نمر په راختو مونځ باطلیږی.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْرَكَ مِنَ الْعَصْرِ سَجْدَةً قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ أَوْ مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ فَقَدْ أَدْرَكَهَا وَالسَّجْدَةُ إِنَّمَا هِيَ الرَّكْعَةُ

فرمائیلی دی چه چا د مازیګر د مانځهٔ نه یوه سجده مخکښ د نمر د ډوبیدو نه اوموندہ یا د سحر د مانځهٔ نه د نمر د راختو نه مخکښ هغهٔ هغه مونځ اوموندهٔ. او د سجدے نه مراد رکعت دے.

بَاب أَوْقَاتِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

باب : د مانځهٔ د پنځو وختونو بیان

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئًا فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ أَمَا إِنَّ جِبْرِيلَ قَدْ نَزَلَ فَصَلَّى إِمَامَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ اعْلَمْ مَا تَقُولُ يَا عُرْوَةُ فَقَالَ سَمِعْتُ بَشِيرَ بْنَ أَبِي مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ نَزَلَ جِبْرِيلُ فَأَمَّنِي فَصَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ

د ابن شهاب زهری ؒ نه روایت دے چه عمر بن عبد العزیز یوه ورځ د مازیګر په مانځهٔ کښ لږ ناوخته کړو نو عروه هغهٔ ته اووے . چه بیشکه جبرائیل علیه السلام راکوز شو. او هغوی امام شو. د رسول الله ﷺ سره ئے مونځ لره اوکړو.نو عمر بن عبد العزیز اووے اے عُروه پوهه شه وایه ته څهٔ وائے. هغوی اووے . ما اوریدلی دی د بشیر بن ابی مسعود نه هغهٔ ویلی وو ما اوریدلی دی د ابو مسعود نه. چه ویلی ئے وو ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو چه جبرائیل راکوز شو او خما امام شو او ما د هغهٔ سره مونځ اوکړو. او بیا مے مونځ اوکړو. او بیا مے مونځ اوکړو. او بیا مے مونځ اوکړو. ګمان مے دے چه په دے بهٔ ئے حساب کولو د پنځو مونځونو په خپلو ګوتو[1].

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخَّرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَدَخَلَ عَلَيْهِ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ فَأَخْبَرَهُ أَنَّ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ أَخَّرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا وَهُوَ بِالْكُوفَةِ فَدَخَلَ عَلَيْهِ أَبُو مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ مَا هَذَا يَا مُغِيرَةُ أَلَيْسَ قَدْ

د ابن شهاب زهری ؒ نه روایت دے چه خلیفه عمر بن عبد العزیز یوه ورځ د مازیګر په مانځهٔ کښ تاخیر اوکړو نو د هغهٔ خواله عروه بن زبیر راغے. او خبرے ئے ورکړو چه مغیره بن شعبه یوه ورځ په مانځهٔ کښ تاخیر کړے وو په کوفه کښ نو د هغهٔ خواله ابومسعود انصاری راغے او ورته ئے اووے. اے مغیره تا دا څهٔ اوکړهٔ. ولے ته نهٔ

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی اګر چه په دے کښ روایت کښ د مانځهٔ وختونه مذکور نهٔ دی. مګر د جابر او ابن عباس رضی الله عنهما په روایتونو کښ وختونه مذکور دی. چه هغے لره ابوداؤد او ترمذی نقل کړی دی او کیدے شی چه دلته راوی د هغے روایت په طرف اشاره کړے ده چه مخاطب پوره روایت لره یاد کړی. باقی پاتے شو تاخیر په مانځهٔ کښ د کومے پورے چه وخت باقی وی د جمهورو په نیز روا دے. اګر چه په اول وخت کښ ادا کول بهتر او افضل دی.

عَلِمْتَ أَنَّ جِبْرِيلَ نَزَلَ فَصَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ بِهٰذَا أُمِرْتُ فَقَالَ عُمَرُ لِعُرْوَةَ انْظُرْ مَا تُحَدِّثُ يَا عُرْوَةُ أَوَإِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ هُوَ أَقَامَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقْتَ الصَّلَاةِ فَقَالَ عُرْوَةُ كَذٰلِكَ كَانَ بَشِيرُ بْنُ أَبِي مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيهِ قَالَ عُرْوَةُ وَلَقَدْ حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ فِي حُجْرَتِهَا قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ

عَنْ عَائِشَةَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ طَالِعَةٌ فِي حُجْرَتِي لَمْ يَفِئِ الْفَيْءُ بَعْدُ وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لَمْ يَظْهَرِ الْفَيْءُ بَعْدُ

نے خبر چه جبرائیلؑ راغے. او مونځ نے اوکړو. او حضرتﷺ هم مونځ اوکړو. بیائے مونځ اوکړو او حضرتﷺ هم مونځ ادا کړو. بیائے مونځ ادا کړو او حضرتﷺ هم مونځ ادا کړو. بیا جبرائیل مونځ ادا او حضرتﷺ ورسره هم مونځ ادا کړو. بیا جبرائیلؑ مونځ اوکړو او حضرتﷺ ورسره هم مونځ اوکړو. بیا اوفرمائیل جبرائیلؑ چه تاته هم دغه شان حکم شوے دے (یعنی باوجود دد ے اهتمام خداوند جلیل د جبرائیلؑ په نازلولو باندی د مانځۀ د وختونو تعلیم اوفرمایلو. بیا تاسو په هغے کښں تاخیر ولے کوئ) بیا اووے عمر بن عبد العزیز عروه ته چه اے عروه! ته څۀ وائے چه جبرائیلؑ حضرتﷺ ته د مانځۀ د وختونو تعلیم فرمائیلے دے. عروه اووے آو دغه شان بشیر بن ابی مسعودؓ د خپل پلار نه روایت کولو. بیا عروه اووے او روایت کړے دے ما ته د مؤمنانو مور بی بی حضرت عائشےؓ د رسول اللهﷺ نه. چه رسول اللهﷺ به د مازیګر مونځ په داسے وخت کښں کولو چه نمر به د هغوی په غولی کښں وو. دیوال دیوال ته به پورته شوے نۀ وو[1].

د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د مازیګر مونځ کولو او نمر خما په حُجره کښں پړقیدۀ.

[1] الله الله یوه زمانه داسے وه چه د یوے ورځے د مانځۀ په تاخیر سره به د خلیفۀ وخت امیر المؤمنین نه واقع شوے وو. فوراً په هغے باندے اونیولے شو. او یو دا ورځے بد انجامه دی. چه په زرګونو بلکه په لکونو اهلِ اسلام هم نه پیژنی چه مونځ څۀ څیز دے. امراء خو چرته په هیره سره هم قبلے ته نۀ مخ کوی. او په دے روایت کښں یو اعتراض دے چه په پوزه روایت کښں حضرت جبرائیل علیه السلام په یوه ورځ په اول وخت ټول مونځونه ادا کړی دی. او یوه ورځ په آخر وخت مستحب کښں. بیا دد ے نه خو په خپله جواز تاخیر معلومیږی او کله چه د تاخیر جواز ثابت وی. نو استدلال د عروه به څنګه صحیح شی. مګر د هغے جواب داسے ورکړے دے چه کیدے شی چه خلیفه د آخر وخت مستحب نۀ هم زیات تاخیر کړے وی. اوس د هغۀ استدلال صحیح شو. چه دومره قدرے تاخیر جائز نۀ دے.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ فِي حُجْرَتِهَا لَمْ يَظْهَرِ الْفَيْءُ فِي حُجْرَتِهَا

مؤمنانو د مور عائشې بي بي د نبي كريم ﷺ نه روايت دے چه هغوی خبر ورکړے دے. چه رسول الله ﷺ د مازيګر مونځ کولو او نمر د هغوی په غولی کښې وو. پورته ختلے نه وو[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ وَاقِعَةٌ فِي حُجْرَتِي

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د مازيګر مونځ کولو او دغه وخت نمر خما په حجره کښې وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا صَلَّيْتُمُ الْفَجْرَ فَإِنَّهُ وَقْتٌ إِلَى أَنْ يَطْلُعَ قَرْنُ الشَّمْسِ الْأَوَّلُ ثُمَّ إِذَا صَلَّيْتُمُ الظُّهْرَ فَإِنَّهُ وَقْتٌ إِلَى أَنْ يَحْضُرَ الْعَصْرُ فَإِذَا صَلَّيْتُمُ الْعَصْرَ فَإِنَّهُ وَقْتٌ إِلَى أَنْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ فَإِذَا صَلَّيْتُمُ الْمَغْرِبَ فَإِنَّهُ وَقْتٌ إِلَى أَنْ يَسْقُطَ الشَّفَقُ فَإِذَا صَلَّيْتُمُ الْعِشَاءَ فَإِنَّهُ وَقْتٌ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چه هر كله تاسو د سحر مونځ ادا كړئ نو د هغے وخت باقي دے د هغے پورې چه د نمر دپاسه غاړه رااوتے نه وي. بيا چه هر كله تاسو د ماسپخين مونځ اوكړئ. نو د هغے وخت باقي پاتے دے د هغے پورے چه د مازيګر وخت راشي. بيا چه هر كله د مازيګر مونځ ادا كړئ نو د هغے وخت باقي دے. د كومې پورے چه نمر زيړ شوے نه وي. بيا چه هر كله د ماښام مونځ ادا كړئ. نو د هغۀ وخت باقي دے د هغے پورې چه شفق غائب شي بيا چه هر كله تاسو د ماسختن مونځ ادا كړئ نو د هغے وخت باقي دے. د نيمې شپې پورے[2].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَقْتُ الظُّهْرِ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ وَوَقْتُ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَسْقُطْ ثَوْرُ الشَّفَقِ وَوَقْتُ الْعِشَاءِ إِلَى

د عبد الله بن عمرو نه روايت دے چه نبي ﷺ فرمائيلي دي چه د ماسپخين وخت باقي وي د هغے پورې چه د مازيګر وخت راشي (يعني د نمر سورے يو مثل شي) او د مازيګر مستحب وخت باقي وي د هغے پورے چه نمر زيړ شوے نه وي. او د ماښام وخت باقي وي د هغه وخته پورے چه د شفق تيزي تلې نه وي. او مستحب

[1] معلومه شوه چه غولے د هغو وروکے وو. او ديوالونه د هغے نه هم زيات واړۀ وو چه كله به د ديوال سورے يو مثل شو نمر به په غولي كښې وو. روستو د هغے نه به پورته ختلو.

[2] دا حديث د جمهورو دليل دے چه پنځۀ وختونه د هغوی په نزد د دغے وختونو پورې باقي دي. مګر د ماسختن مستحب وخت د نيمې شپې پورے دے. لكه چه په دے حديث كښې راغلي دي. او وخت د ادا د هغے د سحره پورے دے. لكه چه د قتاده رضي الله عنه په روايت كښې مخكښې راغي. په هغه باب كښې چه د كوم بنده مونځ هير شي يا اوده شي.

نِصْفِ اللَّيْلِ وَوَقْتُ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ

وخت د ماسختن باقي وي د هغې پورې چه نیمه شپه شوې نه وي. او د سحر وخت باقي وي د هغه وخته پورې چه نمر ختلے نه وي

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَقْتُ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُولِهِ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ الْأَوْسَطِ وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَأَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ

د عبد الله بن عمرو ؓ ویلي دي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه د ماسپخین وخت هغه وخت شروع شي کله چه نمر زوال اومومي. او ترهغې پورې وي چه د بنیادم سورے د هغهٔ د قد برابر شي. د هغې پورے چه د مازیګر وخت نه وي راغلے. او د مازیګر وخت د هغې پورے وي ترڅو چه نمر زیړ شوے نه وي او د ماښام وخت د هغې پورے وي چه شفق غائب شوے نه وي. او وخت د ماسختن د هغې پورے وي ترڅو چه مینځ د نیمې شپې شوے نه وي او وخت د مانځهٔ د سحر د سحر د راختو نه د هغه وخته پورے دے ترڅو چه نمر ختلے نه وي. بیا هر کلهٔ چه نمر راخیژي نو مونځ مهٔ کوئ ځکه چه هغه د شیطان د دواړو ښکرو په مینځ کښې راخیژي[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَقْتِ الصَّلَوَاتِ فَقَالَ وَقْتُ صَلَاةِ الْفَجْرِ مَا لَمْ يَطْلُعْ قَرْنُ الشَّمْسِ الْأَوَّلُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ عَنْ بَطْنِ السَّمَاءِ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ

عبد الله بن عمرو ؓ ویلي دي چه د رسول الله ﷺ نه د مونځون ود وخت تپوس اوکړے شو هغهٔ اوفرمائیل. د سحر د مانځهٔ وخت د هغې پورے دے چه د نمر د پورته طرف غاړه راختلې نه وي. او د ماسپخین وخت د هغې پورے دے چه د آسمان د مینځ نه نمر زوال اومومي. د کومې پورے چه د مازیګر وخت نه وي راغلے. او د مازیګر وخت د هغې پورے دے. کله چه نمر زیړ شي او د هغې د

[1] نووی رحمه الله ویلي دي چه د شفق نه مراد هغه سور والے دے کوم چه په آسمان باندے ظاهرېږي. او دغه مذهب دے د امام شافعي رحمه الله او د جمهورو فقهاؤ او د اهل لغتو او د ابوحنیفه رحمه الله او مزني. او د یوے فرقے د فقهاؤ او اهل لغتو وینا ده چه مراد د هغې نه هغه سپین والے دے چه هغه د زوال د سُور والي نه پس هم د څهٔ وخته پورے وي. مګر قول اول راجح دے. چنانچه په دغه باره کښې امام نووي رحمه الله په تهذیب اللغات او شرح مهذب کښې ډیر دلائل نقل کړي دي. او د شیطان د ښکرو نه یا خو د هغهٔ جماعت او کور والا مراد دي یا د هغهٔ د سر یو طرف. او ظاهر حدیث په دویم معنی باندے دلیل دے. او مطلب دا دے چه هغه څو وخته خپل سَر نمر ته نژدے کوي چه کوم خلق نمر ته سجده کوي. هغه لکه چه دغه مردود لعین ته اوشوه. په دغ وخت باندے لکه د شیطان او د هغهٔ د لښکر غلبه وي. او تسلط وي. ځکه په دغه وخت د مانځهٔ نه ئې منع اوفرمائیله.

الشَّمْسُ وَيَسْقُطْ قَرْنُهَا الْأَوَّلُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ مَا لَمْ يَسْقُطِ الشَّفَقُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ

پاسه غاړه دوبه شوے نه وی. او د سږ ام د ماښځه وخت هله وی چه کله نمر ډوب شی تر دشفق د ډوبیدو پورې. او د ماسختن د ماښځه وخت د نیمے شپے پورے دے.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ لَا يُسْتَطَاعُ الْعِلْمُ بِرَاحَةِ الْجِسْمِ

عبد الله ويلى دى ما د خپل پلار يحيى نه اوريدلى دى چه فرمايلى ئےوو. علم د آرام د طلب كولو سره نه نصيب كيږى[1].

عَنْ بُرَيْدَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَهُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ فَقَالَ لَهُ صَلِّ مَعَنَا هَذَيْنِ يَعْنِي الْيَوْمَيْنِ فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الظُّهْرَ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ فَلَمَّا أَنْ كَانَ الْيَوْمُ الثَّانِي أَمَرَهُ فَأَبْرَدَ بِالظُّهْرِ فَأَبْرَدَ بِهَا فَأَنْعَمَ أَنْ يُبْرِدَ بِهَا وَصَلَّى الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ أَخَّرَهَا فَوْقَ الَّذِي كَانَ وَصَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ وَصَلَّى الْعِشَاءَ بَعْدَمَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ وَصَلَّى الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ بِهَا ثُمَّ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ

بريدة ويلى دى چه د نبى كريم ﷺ نه يو سړے د ماښځه د وخت تپوس اوكړو نو هغهٔ اوفرمائيل. ته دوه ورځے خما سره مونځ ادا كړه. بيا چه هر كله نمر زوال اوموندو. نو بلال ته ئے حكم اوكړو. هغوى اذان اوكړو. بيائے حكم اوكړو. نو هغوى اقامت اوكړو. بيائے مازيګر اولوستو او نمر اوچت وو سپين صفا. بيائے حكم اوكړو نو د ماښام اقامت ئے اوكړو كله چه نمر ډوب شو. بيائے حكم اوكړو نو اقامت ئے اوكړو د ماسختن كله چه شفق ډوب شو. بيائے حكم وركړو نو د سحر اقامت ئے اوكړو كله چه صبا رااوختو. بيا چه كله دويمه ورځ شوه نو حكم ئے اوكړو او ماسپخين ئے په يخ وخت كښ اوكړو او ډير په يخ وخت ئے اوكړو. او مازيګر ئے اوكړو او نمر اوچت وو مګر د اولے ورځے نه ئے لږ تاخير اوكړو. او ماښام ئے ادا كړو د شفق د ډوبيدو نه مخكښ. او ماسختن ئے ادا كړو د دريمے حصے شپے نه پس. او سحر ئے ادا كړو كله چه ښهٔ رڼړا شوله بيائے اوفرمايل هغه سائل كوم ځائے دے. چا چه د ماښځه د وخت تپوس كړے وو؟ هغوى اووى. اے د الله رسوله زهٔ حاضريم. حضرت ﷺ

[1] امام نووى رحمه الله ويلى دى اګر چه دا دے حديث د مواقيت صلوة سره څهٔ تعلق نشته مګر بيا هم امام مسلم رحمه الله په دے ځائے كښ دا دے دپاره كيدے شى ذكر كړے دے چه د عبد الله بن عمرو رضى الله روايت لره. چه هغه په ښو ښكلو طريقو سره روايت كړے دے. او د هغے په اكثرو فائدو او وفور مقاصد باندے نظر كړے دے نو د علم د اوچت منزلت خيال ئے كړے او خلقو ته د ترغيب او تحريض دپاره ئے دے لره نقل كړے دے. چه خلق هميشه د علم طلبګار شى.

فَقَالَ الرَّجُلُ أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَقْتُ صَلَاتِكُمْ بَيْنَ مَا رَأَيْتُمْ

اوفرمائیل چه دا دواړه وختونه چه کوم تا اولیدل. د دے په مینځ کښې ستاسو د مانځۀ وخت دے[1].

عَنْ بْنِ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنْ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ فَقَالَ اشْهَدْ مَعَنَا الصَّلَاةَ فَأَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ بِغَلَسٍ فَصَلَّى الصُّبْحَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالظُّهْرِ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ عَنْ بَطْنِ السَّمَاءِ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالْعَصْرِ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالْمَغْرِبِ حِينَ وَجَبَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالْعِشَاءِ حِينَ وَقَعَ الشَّفَقُ ثُمَّ أَمَرَهُ الْغَدَ فَنَوَّرَ بِالصُّبْحِ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالظُّهْرِ فَأَبْرَدَ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالْعَصْرِ وَالشَّمْسُ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ لَمْ تُخَالِطْهَا صُفْرَةٌ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالْمَغْرِبِ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ الشَّفَقُ ثُمَّ أَمَرَهُ بِالْعِشَاءِ عِنْدَ ذَهَابِ ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ بَعْضِهِ شَكَّ حَرَمِيٌّ فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ مَا بَيْنَ مَا رَأَيْتَ وَقْتٌ

بریده ؓ وائی دی چه یو سړے نبی کریم ﷺ له راغے. او د مانځۀ د وختونو په باره کښې ئے تپوس نه کول حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ته زمونږ سره په مانځۀ کښې حاضر شه بیائے بلال ته حکم ورکړو. هغوی اذان اوکړو په تیاره کښې. بیائے د سحر مونځ اوکړو کله چه صبا رااوختو. بیائے حکم ورکړو د ماسپخین کله چه د آسمان د مینځ نه نمر زوال اوموندو. بیائے حکم اوکړو د مازیګر او نمر اوچت وو. بیائے حکم اوکړو د ماښام کله چه نمر پریوتو. بیائے حکم ورکړو د ماسختن کله چه شفق غائب شو. بیائے حکم اوکړو هغۀ ته د دویمے ورځ او په رڼړا کښې ئے اولوستو سحر لره. بیائے هغۀ ته د ماسپخین حکم اوکړو او په یخ وخت کښې ئے مونځ اوکړو. بیائے هغۀ ته د مازیګر حکم ورکړو او نمر سپین وو چه په هغے کښې زیر والے نۀ شو موندلے. بیائے هغۀ ته د ماښام حکم ورکړو مخکښې د هغے نه چه شفق ظاهر شو. بیائے هغۀ ته د ماسختن حکم ورکړو کله چه دریمه حصه تیره شوه یا د هغے نه څۀ کم ك کړے دے حرمی په دے کښې (کوم چه راوی د حدیث دے) بیا سحر شو نو اوئے فرمائیل کوم ځائے دے هغه سائل. بیائے اوفرمائیل ددی په مینځ کښې چه کوم تاسو اولیدو تول وخت دے.

---

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه د ماښام وخت هم اوږد دے. داسے تنګ نۀ دے لکه څومره چه خنو ګنړلے دے. چه روستو د نمر د پریوتو نه بس دغه وخت دے چه بنده په هغے کښې اودس اوکړی او مونځ ادا کړی. په دے حدیث کښې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ددے جواب لره کړے دے او ښودلی ئے ده چه په هغے کښې د زیاتی ښودلو نه زیاته فراخی او سهولت دے. او ددے نه ثابته شوه چه تاخیر د مانځۀ د مستحب وخته پورے روا دے. نۀ ددے پورے چه مکروه وخت راشي

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَتَاهُ سَائِلٌ يَسْأَلُهُ عَنْ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ شَيْئًا قَالَ فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِينَ انْشَقَّ الْفَجْرُ وَالنَّاسُ لَا يَكَادُ يَعْرِفُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ بِالظُّهْرِ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَالْقَائِلُ يَقُولُ قَدِ انْتَصَفَ النَّهَارُ وَهُوَ كَانَ أَعْلَمَ مِنْهُمْ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ بِالْعَصْرِ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ بِالْمَغْرِبِ حِينَ وَقَعَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ أَخَّرَ الْفَجْرَ مِنَ الْغَدِ حَتَّى انْصَرَفَ مِنْهَا وَالْقَائِلُ يَقُولُ قَدْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ أَوْ كَادَتْ ثُمَّ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتَّى كَانَ قَرِيبًا مِنْ وَقْتِ الْعَصْرِ بِالْأَمْسِ ثُمَّ أَخَّرَ الْعَصْرَ حَتَّى انْصَرَفَ مِنْهَا وَالْقَائِلُ يَقُولُ قَدِ احْمَرَّتِ الشَّمْسُ ثُمَّ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتَّى كَانَ عِنْدَ سُقُوطِ الشَّفَقِ ثُمَّ أَخَّرَ الْعِشَاءَ حَتَّى كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْأَوَّلِ ثُمَّ أَصْبَحَ فَدَعَا السَّائِلَ فَقَالَ الْوَقْتُ بَيْنَ هَذَيْنِ

د ابوموسیٰ ؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې یو سائل حاضر شو او د مانځۀ د وختونو تپوس ئے وکړو حضرت ﷺ دغه وخت ئے جواب ورنکړو (ځکه چه هغۀ ته په ادا کولو سره خودل منظور وو) او خلقو یو بل لره نۀ پیژندل (یعنی د تیرے د وجے نه) بیائے حکم اوکړو او ماسپخین ئے ادا کړو کله چه نمر زوال اوموندو. او یو ویونکی اوویل چه ماسپخین شو او حضرت ﷺ د ټولو نه زیات پوهه وو. بیائے هغۀ ته حکم ورکړو او د مازیګر مونځ ئے ادا کړو او نمر اوچت وو. بیائے هغۀ ته حکم اوکړو او ادائے کړو مونځ د ماښام کله چه نمر پریوتو. بیائے حکم اوکړو هغۀ ته او ادائے کړو ماسختن لره کله چه شفق غائب شو. بیائے حکم اوکړو د سحر په دویمه ورځ او هر کله چه د هغے نه فارغ شو. نو ویونکی والا ویل چه نمر راواوختو یا راختونکے دے. بیائے تاخیر اوکړو د ماسپخین په مانځۀ کښې تر دے پورے چه نزدے شو د مازیګر د کولو وخت. بیائے تاخیر اوکړو په مازیګر کښې تر دے پورے چه یو ویونکی اووے چه نمر سور شو. بیائے تاخیر اوکړو په ماښام کښې چه شفق غائب کیدو ته نزدے شو. بیائے تاخیر اوکړو په ماسختن کښې تر دے پورے چه دریمه حصه د شپے شوله د اولے. بیا سحر شو او سائل لره ئے راواوغوښتو او ورته ئے اوفرمائیل. چه د مانځۀ وخت د دغه دواړو وختونو په مینځ کښې دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ سَائِلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنْ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ فِي الْيَوْمِ

د ابوموسیٰ ؓ نه روایت دے چه یو سړے د حضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. او سوال ئے اوکړو د هغۀ نه په باره د وختونو د مانځۀ کښې. باقی په شان د حدیث د ابن نمیر دے. صرف دومره فرق دے. چه دے راوی ویلی دی چه د ماښام مونځ ئے په دویمه

الثَّانِي

بَاب اسْتِحْبَابِ الْإِبْرَادِ بِالظُّهْرِ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَأَبْرِدُوا بِالصَّلَاةِ فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ الْيَوْمُ الْحَارُّ فَأَبْرِدُوا بِالصَّلَاةِ فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ قَالَ عَمْرٌو وَحَدَّثَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِنَحْوِ ذَلِكَ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ أَذَّنَ مُؤَذِّنُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالظُّهْرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْرِدْ أَبْرِدْ أَوْ قَالَ انْتَظِرْ انْتَظِرْ وَ قَالَ إِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَإِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَأَبْرِدُوا عَنِ الصَّلَاةِ قَالَ أَبُو ذَرٍّ حَتَّى رَأَيْنَا فَيْءَ التُّلُولِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ يَا رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا فَأَذِنَ لَهَا

ورځ د شفق د غائب کيدو نه مخکښې اوکړلو.

باب : په ګرمئ کښې د ماسپخين د مونځ په يخ وخت کښې د کولو بيان

ابوهريرهؓ ويلې دی چه رسول اللهﷺ فرمايلې دی. کله چه ګرمی زياته شی نو (د ماسپخين مونځ) په يخ وخت کښې لولئ. ځکه چه د ګرمئ شدّت د دوزخ د تَپ نه دے.

ابوهريرهؓ ويلې دی چه رسول اللهﷺ فرمايلې دی. کله چه ګرمی شی نو په يخ وخت کښې مونځ ادا کوئ. ځکه چه د ګرمئ تيزی د جهنم د تپ نه ده. عمرو ويلې دی. ما ته ابن شهاب هغوی د ابن مسيب او ابو سلمه نه روايت کړے دے چه ابوهريرهؓ روايت کړے دے د رسول اللهﷺ نه د دے روايت په مثل.

ابوذرؓ ويلې دی چه درسول اللهﷺ مؤذّن د ماسپخين اذان اوکړو. نو هغهٔ اوفرمايل لږ يخ والی ته ئې پريږدوه. لږ يخ والی ته ئې پريږدوه. يائې اوفرمايل لږ انتظار اوکړه. لږ انتظار اوکړه او ونې فرمايل. د ګرمئ سختی د جهنم د اُور نه ده. بيا چه کله د ګرمئ سختی شی. نو مونځ په يخ وخت اداکوئ. ابوذرؓ ويلې دی تر دے پورے انتظار ئې اوکړو چه مونږ د ختبان د سورو پورے اوليدل[1].

ابوهريرهؓ ويلې دی چه رسول اللهﷺ فرمايلې دی. چه د دوزخ اُور د خپل پروردګار په بارګاه کښې شکايت اوکړو. او عرض ئې اوکړو چه اے ځما ربه! او خوړه ځما يو بے حصے بلے لره. نو هغهٔ ته د دوو

---

[1] يعنی ډير وخت اوشو ځکه چه ختبې د زمکے سره لږ ميلاؤ وی. او خلور طرفته خور شوے وی. د هغے سُورے نه پريوځی مګر کله چه د زوال زيات وخت اوشی. مګر د دے نه دا نه معلوميږی چه د يو مثل نه پس ئې کړے وی. ځکه کهٔ چرے دغسے وے نو راوی به د هغے مثل لره بيان کړے وے. ځکه چه دا آسانه وه په خلاف ختبانو د سُوری.

بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ فَهُوَ أَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الْحَرِّ وَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الزَّمْهَرِيرِ

ساګانو اجازت ورکړے شو. یو ساه په یخنۍ کښې او بله ساه په ګرمۍ کښې. پس د دغے وجے نه دی کوم چه تاسو مومۍ سختی د ګرمۍ او یخنۍ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَتِ النَّارُ رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا فَأْذَنْ لِي أَتَنَفَّسْ فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ فَمَا وَجَدْتُمْ مِنْ بَرْدٍ أَوْ زَمْهَرِيرٍ فَمِنْ نَفَسِ جَهَنَّمَ وَمَا وَجَدْتُمْ مِنْ حَرٍّ أَوْ حَرُورٍ فَمِنْ نَفَسِ جَهَنَّمَ

ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے دے چه هغهٔ فرمایلی دی. دوزخ اووے اے ځما ربه! ځما یوے حصے لره اوخوړه بلے حصے. نو ما ته د دوو ساګانو اخستو اجازت راکړه. پس هغهٔ ته ئے د دوو ساګانو د اخستو اجازت ورکړو. یو ساه په یخنۍ کښې او بله ساه په ګرمۍ کښې. بس دغه تاسو چه څهٔ مومۍ د یخنۍ نه هغه د جهنم ساه ده. او څهٔ چه مومۍ تاسو د ګرمۍ نه هغه هم د جهنم ساه ده[1].

بَاب اسْتِحْبَابِ تَقْدِيمِ الظُّهْرِ فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ فِي غَيْرِ شِدَّةِ الْحَرِّ

ماسپخین (مونځ) په اول وخت کښې کول پکار دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ إِذَا دَحَضَتِ الشَّمْسُ

جابر بن سمرهؓ وئیلی دی چه نبی کریمﷺ به ماسپخین مونځ کولو کله چه به نمر زوال اوموندو[2].

عَنْ خَبَّابٍ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ فِي الرَّمْضَاءِ فَلَمْ يُشْكِنَا

خبابؓ وئیلی دی. چه مونږ شکایت اوکړو رسول اللهﷺ ته په زیات نمر کښې د مونځ کولو (یعنی په ماسپخین کښې) نو هغهٔ زمونږ شکایت لره قبول اونهٔ فرمایلو.

عَنْ خَبَّابٍ قَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ حَرَّ الرَّمْضَاءِ فَلَمْ

خبابؓ وئیلی دی. چه مونږ د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راغلو. او هغهٔ ته مو د سختے ګرمۍ ماسپخین شکایت اوکړو نو هغهٔ قبول اونهٔ

---

[1] نوویؒ ذکر کړی دی چه قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه الله تعالی دوزخ لره ادراک او قوت د خبرو ورکړے دے. چه هغه خپل رب ته شکایت اوکړو او د اهل سنت مذهب دادے چه دوزخ او جنت دواړه مخلوق او موجود دی. او دا ټول حدیثونه په خپل ظاهر باندے محمول دی. ظاهر حدیث دغه دے. او ابراد مشروع دے په ماسپخین کښې نهٔ په ماز یګر کښې. مګر په تر د اشهبؒ او د مالکیؒ او په صلوة جمعه کښې ابراد یعنی یخ والے د جمهورو په تر مشروع نه دے. مګر د ځنے ملګرو شافعیو په تر.

[2] ددے حدیث نه ثابته شوه چه کله ګرمی نهٔ وی. نو ماسپخین په اول وخت کښې کول غوره دی.

يَشْكِنَا قَالَ زُهَيْرٌ قُلْتُ لِأَبِي إِسْحٰقَ أَفِي الظُّهْرِ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ أَفِي تَعْجِيلِهَا قَالَ نَعَمْ

فرمایلو. زهیر ویلی دی ما د ابواسحٰق نه تپوس اوکړو. ولے د ماسپخین د مانځهٔ شکایت وو؟ هغوی اووے. آو. ما اووے اول وخت د مانځهٔ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَتِ النَّارُ رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا فَأْذَنْ لِي أَتَنَفَّسْ فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ فَمَا وَجَدْتُمْ مِنْ بَرْدٍ أَوْ زَمْهَرِيرٍ فَمِنْ نَفَسِ جَهَنَّمَ وَمَا وَجَدْتُمْ مِنْ حَرٍّ أَوْ حَرُورٍ فَمِنْ نَفَسِ جَهَنَّمَ

د ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے دے چه هغهٔ فرمایلی دی. دوزخ اووے اے خما ربه! خما یوے حصے لره اوخوړه بلے حصے. نو ماته د دوو ساګانو اخستو اجازت راکړه. پس هغهٔ ته ئے د دوو ساګانو د اخستو اجازت ورکړو. یو ساه په یخنئ کښې او بله ساه په ګرمئ کښې. بس دغه تاسو چه څهٔ مومئ د یخنئ نه هغه د جهنم ساه ده. او څهٔ چه مومئ تاسو د ګرمئ نه هغه هم د جهنم ساه ده[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَقْدِيمِ الظُّهْرِ فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ فِي غَيْرِ شِدَّةِ الْحَرِّ

باب: کله چه سخته ګرمی نهٔ وی نو د ماسپخین (مونځ) په اول وخت کښې کول پکار دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ إِذَا دَحَضَتِ الشَّمْسُ

جابر بن سمرهؓ ویلی دی چه نبی کریمﷺ به ماسپخین مونځ کولو کله چه به نمر زوال اوموندو[2].

عَنْ خَبَّابٍ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ فِي الرَّمْضَاءِ فَلَمْ يُشْكِنَا

خبابؓ ویلی دی. چه مونږ شکایت اوکړو رسول اللهﷺ ته په زیات نمر کښې د مونځ کولو (یعنی په ماسپخین کښې) نو هغهٔ زمونږ شکایت لره قبول اونهٔ فرمایلو.

عَنْ خَبَّابٍ قَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ حَرَّ الرَّمْضَاءِ فَلَمْ يُشْكِنَا قَالَ زُهَيْرٌ قُلْتُ لِأَبِي إِسْحٰقَ أَفِي الظُّهْرِ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ

خبابؓ ویلی دی. چه مونږ د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راغلو. او هغهٔ ته مو د سختے ګرمئ ماسپخین شکایت اوکړو نو هغهٔ قبول اونهٔ فرمایلو. زهیر ویلی دی ما د ابواسحٰق نه تپوس اوکړو. ولے د

---

[1] نووی ذکر کړی دی چه قاضی عیاضؒ ویلی دی چه الله تعالی دوزخ لره ادراک او قوت د خبرو ورکړے دے. چه هغه خپل رب ته شکایت اوکړو. او د اهل سنت مذهب دادے چه دوزخ او جنت دواړه مخلوق او موجود دی. او دا ټول حدیثونه په خپل ظاهر باندے محمول دی. ظاهر حدیث دغه دے. او ابراد مشروع دے په ماسپخین کښې نهٔ په مازیګر کښې. مګر په نزد د اشهبؒ او د مالکیؒ او په صلوٰة جمعه کښې ابراد یعنی یخ والے د جمهورو په نزد مشروع نهٔ دے. مګر د ځنے ملګرو شافعیو په نزد.

[2] ددے حدیث نه ثابته شوه چه کله ګرمی نهٔ وی. نو ماسپخین په اول وخت کښې کول غوره دی.

أَنِي تَعْجِيلِهَا قَالَ نَعَم

ماسپخين د مانځهٔ شكايت وو؟ هغوی اووے. آو. ما اووے اول وخت د مانځهٔ د ادا كولو؟ هغوی اووے. آو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ فَإِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَحَدُنَا أَنْ يُمَكِّنَ جَبْهَتَهُ مِنَ الْأَرْضِ بَسَطَ ثَوْبَهُ فَسَجَدَ عَلَيْهِ

انس ویلی دی چه مونږ به د رسول الله ﷺ سره د ګرمئ په سختئ کښ مونځ کولو. بیا چه به کله چا خپل تندے په سجده کښ په زمکه باندے نهٔ شو ایخودے. نو هغوی به خپله کپړه خوره کړه او په هغے باندے به ئے سجده کوله.

بَاب اسْتِحْبَابِ التَّبْكِيرِ بِالْعَصْرِ

باب: د مازیګر په اول وخت کښ (مونځ) کول مستحب دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي فَيَأْتِي الْعَوَالِيَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ وَلَمْ يَذْكُرْ قُتَيْبَةُ فَيَأْتِي الْعَوَالِيَ

انس ویلی دی چه رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ کولو او نمر به اوچت ولاړ وو. او په هغهٔ کښ به ګرمی وه. او تلونکے به د اوچتو غاړو پورے تلو او هلته به رسیدو او نمر به لا اوچت وو. قتیبه په خپل روایت کښ د اوچتو غاړو ذکر نهٔ دے کړے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ ثُمَّ يَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى قُبَاءٍ فَيَأْتِيهِمْ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ

انس ویلی دی چه مونږ به د مازیګر مونځ اوکړو قُبا ته به تلو او هلته په رسیدو به هم نمر بنهٔ اوچت وو[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ ثُمَّ يَخْرُجُ الْإِنْسَانُ إِلَى بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ فَيَجِدُهُمْ يُصَلُّونَ الْعَصْرَ

انس ویلی دی چه مونږ به د مازیګر مونځ ادا کړے وو. بیا به انسان د بنی عمرو بن عوف محلے ته تلو او هغوی لره په ئے د مازیګر په مانځهٔ کولو موندل[2].

عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فِي دَارِهِ بِالْبَصْرَةِ حِينَ انْصَرَفَ مِنَ الظُّهْرِ وَدَارُهُ بِجَنْبِ الْمَسْجِدِ فَلَمَّا دَخَلْنَا عَلَيْهِ قَالَ أَصَلَّيْتُمُ الْعَصْرَ فَقُلْنَا لَهُ إِنَّمَا

د علاء بن عبد الرحمٰن نه روایت دے. چه هغه د انس بن مالک کورته د ماسپخین د مانځهٔ نه پس لاړو. او د انس کور د جماعت په خوا کښ وو. بیا چه هر کله مونږ خلق د هغوی خواله لاړو نو هغوی اووے تاسو مازیګر مونځ کړے دے؟ مونږ اووے. مونږ خو اوس

---

[1] د مدینے ځنے اوچتے غاړے د اتو میلو پورے وے. او ځنے د دوو میلو پورے وے. او قُباء د مدینے نه درے میله لرے دے.

[2] امام نووی ذکر کړی دی. چه بنی عمرو بن عوف د مدینے نه په دوه میله باندے وو. د دے حدیث نه معلومه شوه چه د حضرت ﷺ په جماعت کښ به مونځ ډیر په اول وخت کیدلو. او دغه غوره دے.

انصَرَفْنَا السَّاعَةَ مِنَ الظُّهْرِ قَالَ فَصَلُّوا الْعَصْرَ فَقُمْنَا فَصَلَّيْنَا فَلَمَّا انصَرَفْنَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا

ماسپخین مونځ اوکړو راغلی یو. نو هغوی اووے ما زیګر ادا کړئ. بیا چه کله مازیګر اوکړی نو هغوی اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو. دا مونځ د منافق دے چه کینی او نمر ته ګوری. بیا چه هر کله هغه د شیطان په دواړو ښکرونو کښ راشی. نو پاسی څلور ټونګے اووهی. په هغے کښ خدائے لره یاد نهٔ کړی مګر لږ.

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ يَقُولُ صَلَّيْنَا مَعَ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ الظُّهْرَ ثُمَّ خَرَجْنَا حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فَوَجَدْنَاهُ يُصَلِّي الْعَصْرَ فَقُلْتُ يَا عَمِّ مَا هٰذِهِ الصَّلَاةُ الَّتِي صَلَّيْتَ قَالَ الْعَصْرُ وَهٰذِهِ صَلَاةُ رَسُولِ اللهِ ﷺ الَّتِي كُنَّا نُصَلِّي مَعَهُ

ابو امامهؓ ویلی دی چه مونږ د عمر بن عبد العزیزؒ سره د ماسپخین مونځ اوکړو او بیا د انس بن مالک خواله لاړو. نو هغهٔ لره مو د مازیګر د مانځهٔ په کولو اولیدو. نو ما اووے اے ځما ترهٔ؟ دا کوم یو مونځ دے؟ هغوی اوفرمایل د مازیګر او دا هغه مونځ دے چه مونږ به د رسول الله ﷺ سره کولو (یعنی مسنون وخت هم دا دے)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَصْرَ فَلَمَّا انصَرَفَ أَتَاهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نُرِيدُ أَنْ نَنْحَرَ جَزُورًا لَنَا وَنَحْنُ نُحِبُّ أَنْ تَحْضُرَهَا قَالَ نَعَمْ فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْنَا مَعَهُ فَوَجَدْنَا الْجَزُورَ لَمْ تُنْحَرْ فَنُحِرَتْ ثُمَّ قُطِّعَتْ ثُمَّ طُبِخَ مِنْهَا ثُمَّ أَكَلْنَا قَبْلَ أَنْ تَغِيبَ الشَّمْسُ

د انسؓ ویلی دی مونږ ته رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ راکړو. بیا چه کله فارغ شو نو د بنی سلمه یو سړے د هغهٔ خواله راغے. او هغهٔ عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! مونږ خپل اوښ ذبحه کول غواړو. او آرزو لره چه تاسو هم تشریف راوړئ. حضرت ﷺ اوفرمایل ښه ده. بیا هغه لاړو او مونږ هم د هغهٔ سره لاړو. او اوښ هم ذبحه شوے نهٔ وو. بیا هغهٔ ذبحه شو او کټ کړے شو او پوخ کړے شو او مونږ د هغے نه د نمر د پریوتو نه مخکښ اوخوړه[1].

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ يَقُولُ كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تُنْحَرُ الْجَزُورُ فَتُقْسَمُ عَشَرَ قِسَمٍ ثُمَّ تُطْبَخُ

رافعؓ ویلی دی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره مونځ اوکړو او بیا اوښ ذبحه شوے وو. او د هغے لس حصے تقسیمیدے. او بیا به پخیدو. او مخکښ د نمر د پریوتو نه به مونږ پخه

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه حضرت صلی الله علیه وسلم به ډیر په اول وخت د مازیګر مونځ ورکولو. چه دا ټول کار د یو پهَر (دریو ګهنټو) نه په کم وخت کښ نهٔ شی کیدے. او د دے حدیث نه د دعوت قبلول ثابت شو.

فَنَأْكُلُ لَحْمًا نَضِيجًا قَبْلَ مَغِيبِ الشَّمْسِ

غوښه خوړله.

عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ كُنَّا نَنْحَرُ الْجَزُورَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الْعَصْرِ وَلَمْ يَقُلْ كُنَّا نُصَلِّي مَعَهُ

اوزاعي ؒ نه دے اسناد سره دا روايت کړے دے په دے کښې فقط دومره دي چه هغوی اووے. چه مونږ به اوښ ذبحه کولو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې روستو د مازيګر نه او دائے نۀ دي ويلی چه مونږ مونځ د هغوی سره کولو.

بَابُ التَّغْلِيظِ فِي تَفْوِيتِ صَلَاةِ الْعَصْرِ

باب: د مازيګر د مانځۀ د فوت کيدو د شدّت بيان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الَّذِي تَفُوتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ

د ابن عمر ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی. د کوم سړی نه چه د مازيګر مونځ فوت شو لکه چه د هغۀ اهل او مال هلاک شو.

بَابُ الدَّلِيلِ لِمَنْ قَالَ الصَّلَاةُ الْوُسْطَى هِيَ صَلَاةُ الْعَصْرِ

باب: د وُسطی مونځ نه د مازيګر مونځ دے

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ شَغَلُونَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ

حضرت علی ؓ ويلی دی د احزاب په ورځ رسول الله ﷺ اوفرمايل. الله دِ د هغوی کورونه او قبرونه د اُور نه ډک کړی لکه چه هغوی قيد کړل او مونږ لره ئے د وسطی مونځ (يعنی د مازيګر مونځ نه مشغول کړو تر هغے پورے چه نمر پريوتو.[1]

[1] نووی رحمه الله ويلی دی د ابن مسعود رضی الله عنه په روايت کښې تصريح راغلے ده چه د وسطی مونځ د مازيګر مونځ دے. او د صحابو رضی الله عنهم اختلاف وو چه وُسطی مونځ کوم چه په قرآن کښې ذکر دے کوم يو مونځ دے. او حضرت علی او ابن مسعود او ابوايوب او ابن عمر او ابن عباس او ابی سعيد خدری او ابو هريره رضی الله عنهم او عبيد سلمانی او حسن بصری او ابراهيم نخعی او قتاده او ضحاک او کلبی او مقاتل او ابوحنيفه او احمد او ابوداؤد او ابن منذر رحمهم الله وغيره مذهب دغه دے. چه هغه د مازيګر مونځ دے. او ترمذی رحمه الله ويلی دی دغه دے قول د علماؤ د صحابو رضی الله عنهم او کوم چه د هغوی نه پس دی. او ماوردی رحمه الله ليکلی دی چه دغه مذهب دے د امام شافعی رحمه الله. ځکه چه احاديث په دے باره کښې د صحت سره وارد شوی دی. او شافعی رحمه الله نص کړے دے چه هغه سحر دے. ځکه چه هغۀ ته احاديث د عصر نۀ دی رسيدلی. کۀ چرے رسيدلے وے نو هغه به هم ددے قائل شوے وو. چه هغه مونځ د مازيګر دے. ځکه چه اصل مقصد د هغۀ د احاديثو اتباع ده. او يو جماعت په دے طرف تلے دے چه هغه مونځ د سحر دے. او دا منقول دے د عمر بن خطاب او معاذ بن جبل او ابن عباس او ابن عمر او جابر او عطار او عکرمه او مجاهد او ربيع بن انس رضی الله عنهم او مالک او جمهورشافعيه رحمهم الله او وغيرهم. او يو جماعت ويلی دی چه هغه ماسپخين دے. او دا منقول دے د زيد بن ثابت او اسامه بن زيد او ابی سعيد خدری رضی الله عنهم او حضرت عائشے رضی الله

عَنْ عَلِيٍّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ وَهُوَ قَاعِدٌ عَلَى فُرْضَةٍ مِنْ فُرَضِ الْخَنْدَقِ شَغَلُونَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ مَلَأَ اللهُ قُبُورَهُمْ وَبُيُوتَهُمْ أَوْ قَالَ قُبُورَهُمْ وَبُطُونَهُمْ نَارًا

د علی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د احزاب په ورځ (دا غزا مشهوره ده د هجرت په څلورم کال کښې شوے ده. او بعضو ویلی دی چه په پنځم کال شوے دے) د خندق په یوه لاره کښې ناست وو او فرمایلی ئے وو چه هغه کافرانو مونږه د وسطی نه منع او ساتل وتردے پورے چه نمر پریوتو. د هغوی قبرونو او کورونو لره یا قبرونو او ګیډو لره د الله تعالی د اُور نه ډک کړی.

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ شَغَلُونَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطَى صَلَاةِ الْعَصْرِ مَلَأَ اللهُ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا ثُمَّ صَلَّاهَا بَيْنَ الْعِشَاءَيْنِ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ

علی ویلی دی چه رسول الله ﷺ په ورځ د احزاب اوفرمایل. چه هغه کافرانو مونږ لره د مونځ د وسطی مونځ د. مازیګر نه منع کړلو. او الله تعالی دِ د هغوی کورونو او قبرونو لره د اُور نه ډک کړی. بیا هغه د ماښام او ماسختن په مینځ کښې د مازیګر مونځ ادا کړو[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَبَسَ الْمُشْرِكُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ حَتَّى احْمَرَّتِ الشَّمْسُ أَوِ اصْفَرَّتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَغَلُونَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطَى صَلَاةِ الْعَصْرِ مَلَأَ اللهُ أَجْوَافَهُمْ وَقُبُورَهُمْ

عبد الله ویلی دی چه رسول الله ﷺ لره مشرکانو د مازیګر د مانځه نه منع کړلو تردے پوری چه نمر سُور یا زیړ شو. پس رسول الله ﷺ اوفرمایل! هغوی منع کړو مونږ لره د وُسطی مونځ د مازیګر مانځه نه. الله دِ د هغوی ګیډے او قبرونه د اُور نه ډک کړی. یا ئے اوفرمایل: حَشَی اللهُ معنی د دواړو یوه ده.

عنها نه او د عبد الله بن شدّاد نه. او یو روایت د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم دغه شان راغلے دے. او قبیصه بن ذویب ویلی دی چه هغه د ماښام مونځ دے. او دے خلقو نه سوا چا ویلی دی چه هغه ماسختن دی. او چا ویلی دی چه هغه د پنځو مونځونو نه یو مونځ مبهم دے چه مونږ ته د هغے علم نشته دے. او څنو ویلی دی پنځهٔ واړه مونځونه وسطی دی. نقل کړی دی دا قاضی عیاض رحمه الله او څنو ویلی دی چه هغه مونځ د جمعے مبارک دے. او په دے تولو قولونو کښې دوه قولونه صحیح دی. یو د سحر او دویم د مازیګر. او ډیر صحیح مازیګر دے. په سبب د وارد کیدلو د احادیثو صحیحه او صریحه. او چا چه جمعه ویلے ده د هغهٔ مذهب خو زیات ضعیف دے. او چا چه ویلی دی پنځهٔ مونځونه دی هغه خو ضعیف څهٔ بلکه غلط دے.

[1] دا تاخیر سهواً اوشو او نسیاناً یا په سبب د اشتغال د دُشمن مخکښې د صلوٰة خوف نه باقی پاتے شو. اوس کهٔ چرے اشتغال د عَدُوٌ سره وی. نو صلوٰة خوف کول پکار دی. او تاخیر روا نهٔ دے. او په بخاری کښې دی چه فقط مونځ مازیګر فوت شو او د ظاهر حدیث نه دا معلومیږی چه دغه یو مونځ فوت شو. او په موطاء کښې دی چه ماسپخین او مازیګر دواړه فوت شوی وو. او په نورو کتابونو کښې دی چه څلور مونځونه ئے یو ځائے اوکړه. ماسپخین، مازیګر او ماښام ماسختن. او تطبیق په دے کښې دغه دے چه واقعه د احزاب په څه ورځے شوے وه. په هغے کښې په څو خله داسے اتفاق راغلے وی. یو خل داسے. یو خل هغسے.

نارًا أَوْ قَالَ حَشَا اللهُ أَجْوَافَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا

عَنْ أَبِي يُونُسَ مَوْلَى عَائِشَةَ أَنَّهُ قَالَ أَمَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنْ أَكْتُبَ لَهَا مُصْحَفًا وَقَالَتْ إِذَا بَلَغْتَ هٰذِهِ الْآيَةَ فَآذِنِّي حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى فَلَمَّا بَلَغْتُهَا آذَنْتُهَا فَأَمْلَتْ عَلَيَّ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى وَصَلَاةِ الْعَصْرِ وَقُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ قَالَتْ عَائِشَةُ سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابو يونس نه روايت دے. چه ازاد كړے غلام وو د حضرت عائشے هغوى ماته اووے. چه حضرت عائشے اوفرمايل. چه يو قرآن ماته اوليكه او اوئے فرمايل چه هر كله تۀ دے ايت حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ ته اورسيږے نو ماته خبر راكړه. بيا چه كله زۀ هغے ته اورسيدم. نو ما هغے ته خبر وركړو. هغوى ما ته اوښودل چه داسے اوليكه : حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى وَصَلَاةِ الْعَصْرِ وَقُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ يعني حفاظت كوئ د مونځونو او د وُسطى مونځ او د مازيگر د مانځۀ. او د الله په وړاندے په ادب سره اودريږئ او اوئے فرمايل چه ما د رسول الله ﷺ نه داسے اوريدلى دى.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ فَقَرَأْنَاهَا مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ نَسَخَهَا اللهُ فَنَزَلَتْ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى فَقَالَ رَجُلٌ كَانَ جَالِسًا عِنْدَ شَقِيقٍ لَهُ هِيَ إِذَنْ صَلَاةُ الْعَصْرِ فَقَالَ الْبَرَاءُ قَدْ أَخْبَرْتُكَ كَيْفَ نَزَلَتْ وَكَيْفَ نَسَخَهَا اللهُ وَاللهُ أَعْلَمُ

براء بن عازب ويلى دى چه نازل شو دا ايت حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ يعنى حفاظت كوئ د مونځونو او د مانځۀ د مازيگر. او مونږ دے لره لوستلو كومے پورے چه الله غوښتله بيا دا منسوخ شو. او نازل شو حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى (يعنى حفاظت كوئ د مونځونو او د مينځ د مونځ نو يو سړے د شقيق په خوا كښې ناست وو. غرض دا چه هغۀ اووے. چه اوس خو صلوة وسطى دغه د مازيگر مونځ دے. نو براء اووے زۀ خو تاسو ته ښودل غواړم. چه دا ولے نازل شو او ولے الله تعالى هغے لره منسوخ كړو. او الله تعالى ښۀ پوهه دے.

قَالَ مُسْلِم وَرَوَاهُ الْأَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ شَقِيقِ بْنِ عُقْبَةَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَرَأْنَاهَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَانًا بِمِثْلِ حَدِيثِ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ

مسلم ويلى دى روايت كړے دے دا مونږ ته اشجعى د سفيان ثورى نه هغوى د اسود بن قيس نه هغوى د شقيق نه هغوى د براء بن عازب نه چه ويلى دى هغوى لوستلى دى مونږ د يو زمانے پورے د رسول الله ﷺ سره په شان د روايت د فضيل بن مرزوق يعنى كوم چه پورته تير شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَوْمَ الْخَنْدَقِ جَعَلَ يَسُبُّ كُفَّارَ قُرَيْشٍ وَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ مَا كِدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ الْعَصْرَ حَتَّى كَادَتْ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَاللهِ إِنْ صَلَّيْتُهَا فَنَزَلْنَا إِلَى بُطْحَانَ فَتَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَوَضَّأْنَا فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَصْرَ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ

د جابرؓ نه روایت دے چه عمر بن خطابؓ د خندق په ورځ راغے. او د قریشو کافرانو ته ئے بد ویل شروع کړو. او عرض ئے اوکړو چه اے د الله رسوله ﷺ! قسم م د په الله پاک وی. چه زهٔ نهٔ یم پوهه چه ماد مازیګر مونځ کړے وی. ددے پورې چه نمر پریوتو ته نږدے شوے وی. بیا رسول الله ﷺ اوفرمایل قسم دے په الله چه ما هم نه دے کړے. بیا مونږ د یوے شګلوړے زمکے په طرف لاړو. او رسول الله ﷺ اودس اوکړو او مونږ تولو اودس اوکړو. او هغهٔ د نمر د پریوتو نه پس د مازیګر مونځ اوکړو. بیائے د هغے نه پس د ماښام مونځ ادا کړو.

بَابُ فَضْلِ صَلَاتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا

باب: د سحر او د مازیګر د مانځهٔ فضیلت او د هغے د ساتلو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي فَيَقُولُونَ تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه تاسو له د شپے فرښتے او د ورځے فرښتے وراندے روستو راځی (یعنی د حفاظت دپاره) او د سحر او د مازیګر په مانځهٔ کښې جمع کیږی. بیا پورته خیژی هغه فرښتے کومے چه د شپے ستاسو سره وی او پروردګار د هغوی نه تپوس کوی. حالانکه هغه ښهٔ پوهه دے. چه تاسو څما بندیګانو له په څهٔ حال کښې پریخودی دی؟ هغه عرض کوی. کله چه مونږ هغوی له پریخودل نو هغوی مونځ کولو (یعنی د سحر او کله چه مونږ د هغوی خواله وراغلو نو هم هغوی مونځ کولو[1].

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ وَهُوَ يَقُولُ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

جریرؓ ویلی دی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. چه هغه د څوارلسمے شپے د سپوږمۍ په طرف اوکتل او اوئے فرمایل. بیشکه

[1] ددے حدیث نه د سحر د مانځهٔ او د مازیګر د مانځهٔ لوئے فضیلت ثابت شو.

وَسَلَّمَ إِذْ نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ فَقَالَ أَمَا إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا الْقَمَرَ لَا تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا يَعْنِي الْعَصْرَ وَالْفَجْرَ ثُمَّ قَرَأَ جَرِيرٌ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا

به تاسو خپل پروردګار لره او وینئ لکه چه دے سپوږمئ لره وینئ هیڅ کله به د یو بل په پرده کښ نه راځئ د هغهٔ په لیدو کښ. بیا کهٔ چرے ستاسو نه کیدے شي نو مهٔ روستو کیږئ د نمر د راختو نه په وړاندے مانځهٔ کښ او د نمر د پریوتو نه په مخکښ مانځهٔ کښ (یعنی په سحر او مازیګر کښ. بیا جریر‌ؓ دا اٰیت اولوستو (یعنی پاکی وایه د خپل رب د تعریف سره مخکښ د راختلود نمر نه او د پریوتلو د نمر نه)[1].

قَالَ مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ نَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ وَأَبُو أُسَامَةَ وَوَكِيعٌ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ أَمَا إِنَّكُمْ سَتُعْرَضُونَ عَلَى رَبِّكُمْ فَتَرَوْنَهُ كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا الْقَمَرَ وَقَالَ ثُمَّ قَرَأَ وَلَمْ يَقُلْ جَرِيرٌ .

مسلم‌ؒ ویلی دی بل روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر بن ابی شیبه هغوی د عبد الله بن نمیر او ابو أسامه نه او وکیع نه په دے اسناد سره او په دے کښ دادی چه هغه اوفرمایل د خپل پروردګار مخکښ به پیش کړے شئ بیا به هغهٔ لره اووینئ لکه چه وینئ دے سپوږمئ لره او ویلی دی چه بیائے اولوستو دا اٰیت او د جریر نوم ئے وانهٔ خستو.

عَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُؤَيْبَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ آنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ قَالَ الرَّجُلُ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي

عُماره وائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو چه داخل به نهٔ شی چرته هغه بنده په دوزخ کښ څوک چه مونځ ادا کوی مخکښ د راختلو د نمر نه او مخکښ د ډوبیدو د نمر نه یعنی د سحر او د مازیګر . پس د بصرے والو نه یو سړی اووے چه تا اوریدلی دی دے لره د رسول الله ﷺ نه؟ هغوی اووے آو . هغهٔ اووے. زهٔ هم ګواهي ورکوم چه ما هم اوریدلی دی دے لره د رسول الله ﷺ نه. اوریدلی دی خما غوږونو او یاد ساتلی دی خما زړهٔ.

[1] : دد ے حدیث نه معلومه شوه چه دیدار الهی به د پورته طرفنه وی. او دغه وجه به وی چه څوک به د چا په پرده کښ نهٔ وی. او دا بغیر دپاسه طرفنه نهٔ شی کیدے. پس په دے کښ رد راغے په وینا د جهمیان ناپاکو چه هغه منکران فوق دی. او نووی رحمه الله لیکلی دی چه دیدار الهی خاص دے د مؤمنانو سره. غرض دا چه کفار به د هغے نه محروم وی. او دغه شان به منافقین هم الله تعالی لره نهٔ وینی په دے جمهور اهل سنت دی.

عَنِ ابْنِ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَلِجُ النَّارَ مَنْ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ فَقَالَ آنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ أَشْهَدُ بِهِ عَلَيْهِ قَالَ وَأَنَا أَشْهَدُ لَقَدْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهُ بِالْمَكَانِ الَّذِي سَمِعْتُهُ مِنْهُ

عُمارهؓ وایلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه داخل به نهٔ شی په دوزخ کښې څوک چه مونځ ادا کوی د نمر د راختو نه مخکښې او د پریوتو نه مخکښې. او د هغوی سره د بصرے والو نه یو سړے وو. هغه اووے ولے تا دا اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه؟ هغوی اووی. آو. زهٔ د ے ګواهي ورکوم. نو هغهٔ اووے چه زهٔ هم ګواهي ورکوم په دی چه ما هم اوریدلی دی دا د رسول اللهﷺ نه چه فرمایلی ئے وو دغه شان په د ے مکان کښې چه کوم ځائے تا د هغهٔ نه اوریدلی دی.

بَاب بَيَانِ أَنَّ أَوَّلَ وَقْتِ الْمَغْرِبِ عِنْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ

باب : د ماښام اول وخت د نمر د پریوتو نه د ے

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْمَغْرِبَ إِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَتَوَارَتْ بِالْحِجَابِ

سلمهؓ وایلی دی چه رسول اللهﷺ به همیشه د ماښام مونځ ورکولو کله چه به نمر پریوتو او په پرده کښې به پټ شو.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ يَقُولُ كُنَّا نُصَلِّي الْمَغْرِبَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْصَرِفُ أَحَدُنَا وَإِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ

رافع بن خدیج وائی. چه مونږ به د ماښام مونځ د رسول اللهﷺ سره ادا کړو. او واپس به راغلو (غشی ویشتل به مو کول) او زمونږ نه به هر یو د خپل غشی غورځولو ځائے لره لیدهٔ (یعنی دومره رڼا به وه)[1].

بَاب وَقْتِ الْعِشَاءِ وَتَأْخِيرِهَا

باب : د ماسخوتن وخت او په هغے کښې د تاخیر کولو بیان

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ أَعْتَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي بِصَلَاةِ الْعِشَاءِ وَهِيَ الَّتِي تُدْعَى الْعَتَمَةَ فَلَمْ يَخْرُجْ رَسُولُ اللهِ ﷺ حَتَّى قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ نَامَ النِّسَاءُ وَالصِّبْيَانُ فَخَرَجَ رَسُولُ

د اُمّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت د ے چه یوه شپه رسول اللهﷺ د ماسخوتن په مانځهٔ کښې ناوخته کړ. چه هغے ته خلق عتمه وائی. او رسول اللهﷺ راوانهٔ وتلو تر د ے پور ے چه عمرؓ بن خطاب عرض اوکړو چه ښځے او معصومان اودهٔ شول. بیا رسول اللهﷺ راووتو او اوئے فرمایل: چه سوا ستاسو نه څوک دد ے مانځهٔ انتظار

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د نمر د پریوتو نه فوراً پس د ماښام مونځ شروع کیدو.

اللهِ ﷺ فَقَالَ لِأَهْلِ الْمَسْجِدِ حِينَ خَرَجَ عَلَيْهِمْ مَا يَنْتَظِرُهَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ غَيْرُكُمْ وَذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ يَفْشُوَ الْإِسْلَامُ فِي النَّاسِ زَادَ حَرْمَلَةُ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَذُكِرَ لِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تَنْزُرُوا رَسُولَ اللهِ ﷺ عَلَى الصَّلَاةِ وَذَاكَ حِينَ صَاحَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ

نه کوی (دا زیرے دے چه خلق خوشحاله شی) او دا واقعه په خلقو کښې د اسلام خوریدو نه مخکښې وه. حرمله په خپل روایت کښې دا خبره زیاته کړے ده. چه ابن شهاب ویلی دی او ذکر نے کړے دے ما ته یعنی راوی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل چه تاسو خلقو لره دا جائز نه دی چه د الله د رسول الله ﷺ نه د مانځهٔ غوښتنه اوکړئ او دائے هله اوفرمایل چه کله حضرت عمرؓ ورته آواز کړے وو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَعْتَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ حَتَّى ذَهَبَ عَامَّةُ اللَّيْلِ وَحَتَّى نَامَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى فَقَالَ إِنَّهُ لَوَقْتُهَا لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي وَفِي حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ لَوْلَا أَنْ يَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي

أمُ المؤمنین حضرت عائشےؓ فرمایلی دی چه یوه شپه رسول الله ﷺ د ماسخوتن په مانځهٔ کښې ناوخته کړو. تردے پورے چه د شپے زیاته حصه تیره شوه او په جماعت کښې چه کوم خلق وو هغه اوده شو. بیا حضرت ﷺ رااووتو او اوئے فرمایل: ددے وخت دا دے. کهٔ چرے ماته دا خیال نهٔ وی چه زهٔ خپل اُمت په مشقت کښې او نهٔ غورځوم. او د عبد الرزاق په روایت کښې دی کهٔ چرے ځما په اُمت بار کیدے نهٔ [1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ مَكَثْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ نَنْتَظِرُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ فَخَرَجَ إِلَيْنَا حِينَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ أَوْ بَعْدَهُ فَلَا نَدْرِي أَشَيْءٌ شَغَلَهُ فِي أَهْلِهِ أَوْ غَيْرُ ذٰلِكَ فَقَالَ حِينَ خَرَجَ إِنَّكُمْ لَتَنْتَظِرُونَ صَلَاةً مَا يَنْتَظِرُهَا أَهْلُ دِينٍ غَيْرُكُمْ وَلَوْلَا أَنْ يَثْقُلَ عَلَى أُمَّتِي لَصَلَّيْتُ بِهِمْ هٰذِهِ السَّاعَةَ ثُمَّ أَمَرَ الْمُؤَذِّنَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَلَّى

عبد الله ابن عمرؓ ویلی دی چه مونږ یوه ورځ ناست وو د ماسختن د مانځهٔ دپاره د رسول الله ﷺ انتظار مو کولو. بیا هغهٔ زمونږ په طرف رااووتو . هر کله چه درے حصے شپه تیره شوه یا د هغے نه پس. مونږ نهٔ پوهیږو چه هغهٔ ته په کور کښې څهٔ کار راغلے وو. یا نور څهٔ وو. کله چه رااووتو بیا هغهٔ اوفرمایل : چه تاسو انتظار کوو داسے مانځهٔ چه ستاسو نهٔ سوا و دین والادد ے انتظار نهٔ کولو. کهٔ چرے ځما په اُمت بار نهٔ وے. نو ما به همیشه د دوی سره په دے وخت دا مونځ ادا کولو. بیائے مؤذن ته حکم اوفرمایلو. هغه اقامت اوکړو. او حضرتﷺ مونځ ادا کړو.

[1] دا چهٔ ے کوم اوفرمایل. چه د هغے وخت دغه دے. ددے نه دا مراد نهٔ دے. چه د نیمے شپے نه روستو وخت دے بلکه مراد دغه دے چه د نیمے شپے پورے تاخیر کول روا دی. او د ثلث پورے وخت مختار دے. دغه رنګے په نورو روایتونو کښې ددے تصریح راغلے ده.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شُغِلَ عَنْهَا لَيْلَةً فَأَخَّرَهَا حَتَّى رَقَدْنَا فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ اسْتَيْقَظْنَا ثُمَّ رَقَدْنَا ثُمَّ اسْتَيْقَظْنَا ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ لَيْسَ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ اللَّيْلَةَ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ غَيْرُكُمْ

عبد الله بن عمرؓ وېلی دی چه رسول الله ﷺ د ماسختن د مانځه په وخت یوه ورځ په څۀ کار کښې مشغول شولو او په هغې کښې ئې وخت تیر کړو تردے پورے چه مونږ په جماعت کښې اوده شو او بیا راويخ شو بیا اوده شو او بیا راويخ شو. بیا زمونږ په طرف رسول الله ﷺ راووتو او اوئې فرمايل. د زمکے والا نۀ څوک هم نن شپه ددے مانځۀ په انتظار کښې نۀ دی سوا ستاسو نه

عَنْ ثَابِتٍ أَنَّهُمْ سَأَلُوا أَنَسًا عَنْ خَاتَمِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَخَّرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ذَاتَ لَيْلَةٍ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ أَوْ كَادَ يَذْهَبُ شَطْرُ اللَّيْلِ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَنَامُوا وَإِنَّكُمْ لَمْ تَزَالُوا فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلَاةَ قَالَ أَنَسٌ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ خَاتَمِهِ مِنْ فِضَّةٍ وَرَفَعَ إِصْبَعَهُ الْيُسْرَى بِالْخِنْصِرِ

ثابتؓ وېلی دی خلقو د رسول الله ﷺ د ګوتۍ د حال موافق د انسؓ نه تپوس اوکړو. نو هغوی اووے. چه یوه شپه رسول الله ﷺ ناوخته کړو په ماسختن کښې د نیمے شپے پورے یا نیمے شپے ته د نږدے پورے بیا هغهؓ راغے او اوئې فرمايل. خلقو مونځ کولو کولو اوده شول او تاسو چه د کومے پورې د مانځۀ په انتظار کښې یئ لکه چه په مانځۀ کښې یئ (یعنی د ثواب په وجه سره) بیا انسؓ اووے. لکه چه زۀ اوس وینم د هغۀ د ګوتۍ هغه چمک کومه چه د سپینو زرو وه. او هغوی د ګس لاس په کچه ګوته سره اشاره اوکړه (یعنی ګوتۍ په دغه ګوته کښې وه)[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ نَظَرْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً حَتَّى كَانَ قَرِيبٌ مِنْ نِصْفِ اللَّيْلِ ثُمَّ جَاءَ فَصَلَّى ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ خَاتَمِهِ فِي يَدِهِ مِنْ فِضَّةٍ

انسؓ وېلی دی چه مونږ یوه شپه د رسول الله ﷺ ددے پورے انتظار اوکړو چه نیمه شپه نږدے شوله بیا هغۀ تشریف راؤړو او مونځ ئې ادا کړو. او زمونږ په طرف متوجه شو. لکه خه زۀ اوس وینم د هغۀ په لاس کښې د هغۀ د ګوتۍ چمک یعنی پړقیدو لره. او هغه د سپینو زرو وه.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنْتُ أَنَا وَأَصْحَابِي الَّذِينَ قَدِمُوا مَعِي فِي السَّفِينَةِ نُزُولًا فِي بَقِيعِ بُطْحَانَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ فَكَانَ يَتَنَاوَبُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو موسیٰؓ وېلی دی زۀ او څما ملګری کوم چه په کشتۍ کښې راغلی وو دا ټول د بقیع په شګلوړے زمکه کوز شوی وو. او رسول الله ﷺ په مدینه کښې وو. او په مونږ کښې یو جماعت به هره ورځ د ماسختن په وخت د رسول الله ﷺ په خدمت کښې په نمبر نمبر راتلو.

---

[1] ددے حدیث نه د سپینو زرو ګوتۍ په ګوته کښې اچول روا معلوم شول. او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده.

عِنْدَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ كُلَّ لَيْلَةٍ نَفَرٌ مِنْهُمْ قَالَ أَبُو مُوسَى فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَأَصْحَابِي وَلَهُ بَعْضُ الشُّغْلِ فِي أَمْرِهِ حَتَّى أَعْتَمَ بِالصَّلَاةِ حَتَّى ابْهَارَّ اللَّيْلُ ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فَصَلَّى بِهِمْ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ قَالَ لِمَنْ حَضَرَهُ عَلَى رِسْلِكُمْ أُعْلِمُكُمْ وَأَبْشِرُوا أَنَّ مِنْ نِعْمَةِ اللَّهِ عَلَيْكُمْ أَنَّهُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ أَحَدٌ يُصَلِّي هَذِهِ السَّاعَةَ غَيْرُكُمْ أَوْ قَالَ مَا صَلَّى هَذِهِ السَّاعَةَ أَحَدٌ غَيْرُكُمْ لَا نَدْرِي أَيَّ الْكَلِمَتَيْنِ قَالَ قَالَ أَبُو مُوسَى فَرَجَعْنَا فَرِحِينَ بِمَا سَمِعْنَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اخر یوه ورځ زۀ د یو څو ملګرو سره په خدمت کښې حاضر شوم او د پیغمبر ﷺ څۀ کار وو چه په هغې کښې مشغول وو. تردے پورے چه د مونځ ناوخته شو او شپه نیمے ته نږدے شوه. بیا رسول الله ﷺ رااووتو او د ټولو سره ئے مونځ اوکړو. بیا چه هر کله فارغ شو. نو حاضرینو ته ئے اوفرمایل لږ اودریږئ زۀ تاسو له خبر درکوم. او په تاسو د زیرے وی چه په تاسو باندے د الله تعالی احسان دا وو دا وخت ستاسو نه سوا یو بنده مونځ نۀ کوی. یائے اوفرمایل. چه دا وخت ستاسو نه سوا چا مونځ نۀ دے کړے. او وائی زۀ پوهه نۀ یم چه په دے دوارو کښې ئے کومه یوه خبره ویلی ده. ابوموسیٰ ویلی دی چه بیا مونږ د رسول الله ﷺ نه ددے خبرے د اوریدو په سبب په خوشحالئ خوشحالئ سره واپس لاړو.

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ قُلْتُ لِعَطَاءٍ أَيُّ حِينٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ أَنْ أُصَلِّيَ الْعِشَاءَ الَّتِي يَقُولُهَا النَّاسُ الْعَتَمَةَ إِمَامًا وَخِلْوًا قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ أَعْتَمَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ الْعِشَاءَ قَالَ حَتَّى رَقَدَ نَاسٌ وَاسْتَيْقَظُوا وَرَقَدُوا وَاسْتَيْقَظُوا فَقَامَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ الصَّلَاةَ فَقَالَ عَطَاءٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَخَرَجَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ الْآنَ يَقْطُرُ رَأْسُهُ مَاءً وَاضِعًا يَدَهُ عَلَى شِقِّ رَأْسِهِ قَالَ لَوْلَا أَنْ يَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُصَلُّوهَا كَذَلِكَ قَالَ فَاسْتَثْبَتُّ عَطَاءً كَيْفَ وَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

ابن جریج ویلی دی. ما عطاء ته اوے ستا په نزد کوم وخت غوره دے چه زۀ په هغه وخت د ماسختن مونځ ورکوم چه هغے ته خلق عتمه وائی. خوا کۀ امام وی یا یواځے. بیا عطاء اووے چه ما د ابن عباس نه اوریدلی دی هغۀ فرمایلی وو چه یو شپه نبی کریم ﷺ د ماسختن مونځ ناوخته کړو تردے پورې چه خلق اوده شول. بیا ویښ شو. بیا اوده شول او بیا ویښ شو. بیا عمر بن خطاب اووے. چه مونځ (یعنی آواز ئے اوکړو چه د مانځۀ وخت شو) بیا عطاء وائی چه ابن عباس ویلی دی چه رااووتو رسول الله ﷺ لکه چه زۀ اوس هغۀ له وینم چه د سر مبارک نه ئے اوبۀ څڅیدے. او هغۀ د خپل سر دپاسه لاس ایخودے وو. او هغۀ اوفرمایل: کۀ چرے ځما په امت باندے بار نۀ وے نو ما به هغوی ته حکم کړے وو چه هغوی به دا مونځ په دی وخت ورکولو. ابن جریر ویلی دی چه ما د عطاء نه د کیفیت تپوس اوکړو. چه نبی کریم ﷺ په

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ كَمَا أَنْبَأَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَبَدَّدَ لِي عَطَاءٌ بَيْنَ أَصَابِعِهِ شَيْئًا مِنْ تَبْدِيدٍ ثُمَّ وَضَعَ أَطْرَافَ أَصَابِعِهِ عَلَى قَرْنِ الرَّأْسِ ثُمَّ صَبَّهَا يُمِرُّهَا كَذَلِكَ عَلَى الرَّأْسِ حَتَّى مَسَّتْ إِبْهَامُهُ طَرَفَ الْأُذُنِ مِمَّا يَلِي الْوَجْهَ ثُمَّ عَلَى الصُّدْغِ وَنَاحِيَةِ اللِّحْيَةِ لَا يُقَصِّرُ وَلَا يَبْطِشُ بِشَيْءٍ إِلَّا كَذَلِكَ قُلْتُ لِعَطَاءٍ كَمْ ذُكِرَ لَكَ أَخَّرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَتَئِذٍ قَالَ لَا أَدْرِي قَالَ عَطَاءٌ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أُصَلِّيَهَا إِمَامًا وَخِلْوًا مُؤَخَّرَةً كَمَا صَلَّاهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَتَئِذٍ فَإِنْ شَقَّ عَلَيْكَ ذَلِكَ خِلْوًا أَوْ عَلَى النَّاسِ فِي الْجَمَاعَةِ وَأَنْتَ إِمَامُهُمْ فَصَلِّهَا وَسَطًا لَا مُعَجَّلَةً وَلَا مُؤَخَّرَةً

خپل سر لاس ولې ایخودی وو؟ او ابن عباس تا ته څنګه ښودلی وو. عطاء خپلې ګوتې لږې شان کھولاؤ کړې. بیا ئې د خپلو ګوتو غاړې په خپل سر باندې کېښودې. او بیائې هغې لرد سر نه ښکته کړې. او راښکودې ئې تردې پورې چه د هغهٔ غټه ګوته د غوږ د هغې غاړې طرفته اورسیده. کومه غاړه چه د مخ طرفته ده. بیا د هغهٔ غټه ګوته د غوږ او د تندی د مینځ پورې او د ږیرې د غاړې پورې لاس ئې په څهٔ څیز باندې نهٔ پریوتلو او نهٔ ئې چا لره نیولو. مګر دغه شان ما عطاء ته اووئې. چه هغوی دا هم ذکر کړه. چه هغوی په دغه شپه کښې ماسختن څومره ناوخت کړو. هغهٔ اووې. ماته پته نشته . بیا عطاء اووې. چه زهٔ غوره کوم دپاره د خان خپل چه زهٔ دغه وخت مونځ ورکړم امام شم یا یواځې ورستو کړم لکه چه ادا کړې دې هغې لره حضور نبی کریم ﷺ په دغه شپه کښې. او کهٔ چرې تاسو باندې ګرانیږی یا په خلقو باندې بار وی. او تهٔ د هغوی امام ئې نو هغې لره په درمیانه وخت کښې ادا کړه. ډیره تادی هم مهٔ کوه او ډیر زیات روستو والې هم مهٔ کوه[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُؤَخِّرُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ

جابر بن سمرهؓ وېلی دی چه رسول الله ﷺ به د ماسختن په مانځهٔ کښې روستې والې کولو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ نَحْوًا مِنْ صَلَاتِكُمْ وَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَتَمَةَ بَعْدَ صَلَاتِكُمْ شَيْئًا وَكَانَ يُخِفُّ الصَّلَاةَ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كَامِلٍ يُخَفِّفُ

جابر بن سمرهؓ وېلی دی چه رسول الله ﷺ به ستاسو په شان مونځ ورکولو. او د ماسختن په مانځهٔ کښې به ئې ستاسو په نسبت لږ روسته والې کولو. او مونځ به ئې سپک ادا کولو. او د ابوکامل په روایت کښې د تخفیف لفظ دې. د هغې معنٰی هم دغه ده.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ

عبدا لله بن عمرؓ وېلی دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلی دی چه هغهٔ

[1] په سر باندې د لاس ایخودلو هېئت د کومې چه ابن جریر تپوس کړې دې. دا صرف د محبت او د عشق خبره وه. او د دې اُمت په خصائص او فضائل کښې دا خبره ده چه د خپل نبی احوال لره ضبط ساتي.

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمْ أَلَا إِنَّهَا الْعِشَاءُ وَهُمْ يُعْتِمُونَ بِالْإِبِلِ

فرمايلي وو. چه په تاسو د باندے خلق غالب نشي. چه ختم کړي ستاسو د ماسختن د مانځهٔ نوم لره ځکه چه هغه د اوبنانو نه په پيو اخستو کښ روسته والے کوي (يعني په دے وجه سره هغه ماسختن ته عتمه وائي)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْعِشَاءِ فَإِنَّهَا فِي كِتَابِ اللهِ الْعِشَاءُ وَإِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلَابِ الْإِبِلِ

عبدا لله بن عمر ويلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه په تاسو دباندے خلق د ماسختن د مانځهٔ په نوم غالب نهٔ شي ځکه چه هغه د الله په کتاب کښ عشاء دے. ځکه چه هغه په اوبنانو لوشلو کښ حصاريږي[1]

بَابُ اسْتِحْبَابِ التَّبْكِيرِ بِالصُّبْحِ فِي أَوَّلِ وَقْتِهَا وَهُوَ التَّغْلِيسُ وَبَيَانِ قَدْرِ الْقِرَاءَةِ فِيهَا

باب: د سحر مونځ وختي په اول وخت کښ د ادا کولو د مستحب کيدو او د هغے د قرأت د مقدار په بيان کښ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ نِسَاءَ الْمُؤْمِنَاتِ كُنَّ يُصَلِّينَ الصُّبْحَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَرْجِعْنَ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ لَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ

د أُمُّ المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے چه مؤمنانو ښځو به مونځ کولو د رسول الله ﷺ سره. بيا به په خپلو څادرو کښ پټے واپس کيدے چه هغوی لره به چا نهٔ پيژندے (يعني د مانځهٔ نه پس به دومره تياره وه)[2]

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَقَدْ كَانَ نِسَاءٌ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ يَشْهَدْنَ الْفَجْرَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَنْقَلِبْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ وَمَا يُعْرَفْنَ مِنْ تَغْلِيسِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّلَاةِ

أُمُّ المؤمنين حضرت عائشے فرمايلي دي. مؤمنانے ښځے په خپلو څدرو کښ پټے به د رسول الله ﷺ سره (د مانځهٔ د کولو د پاره) د سحر په مانځهٔ کښ حاضريدلے. او بيا به خپلو کورونو ته واپس تلے. او د نبی کريم د سحر وختي مونځ کولو په سبب سره به هغه پيژندلے نهٔ شوے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

أُمُّ المؤمنين حضرت عائشے فرمايلي دي. چه رسول الله ﷺ به د

---

[1] يعني د ماسختن مونځ ته دغه عشاء وايئ لکه چه د باندے خلق ورته عتمه وائي. او اصل لغت کښ عتمه وخت تيريدو ته وائي. چونکه د باندے خلقو به د اوبنانو نه په پيو اخستلو کښ وخت تيرولو ځکه هغه د عشاء مانځهٔ ته عتمه وائي.

[2] د دے حديث نه معلومه شوه چه د سحر مونځ زيات په اول وخت تيارهٔ کښ کول مستحب دي. او د امام مالک او امام شافعي او احمد رحمهم الله او جمهورو دغه مذهب دے. او په دے حديث کښ د ښځو په مانځهٔ کښ حاضريدل هم ثابت شو. کهٔ چرے د فتنے يره نهٔ وي.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُصَلِّي الصُّبْحَ فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ وَ قَالَ الْأَنْصَارِيُّ فِي رِوَايَتِهِ مُتَلَفِّفَاتٍ

سحر مونځ ادا کولو او ښځې به په خپلو څادرو کښې پټې راغلې. او په تیارهٔ کښې به هغوی پیژندلې نهٔ شوې. او انصاري په خپل روایت کښې متلففات ویلې دے. چه د هغې معنٰی هم پټې شوې دي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ نَقِيَّةٌ وَالْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ وَالْعِشَاءَ أَحْيَانًا يُؤَخِّرُهَا وَأَحْيَانًا يُعَجِّلُ كَانَ إِذَا رَآهُمْ قَدِ اجْتَمَعُوا عَجَّلَ وَإِذَا رَآهُمْ قَدْ أَبْطَئُوا أَخَّرَ وَالصُّبْحَ كَانُوا أَوْ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهَا بِغَلَسٍ

جابر ؓ ویلي دي چه رسول الله ﷺ د ماسپخین مونځ د ماسپخین په وخت او زیات په ګرمۍ کښې (یعني پس د زوال نه) کولو. او مازیګر په داسې وخت کښې چه نمر به صفا شو. او ماښام چه کله به نمر پریوتو. او په ماسختن کښې به ئې کله روسته والے کولو او کله به ئې په اول وخت کښې کولو. کله چه به ئې اوکتل چه خلق جمع شوي دي، نو په اول وخت به ئې مونځ ادا کړو. او کله چه به ئې اوکتل چه خلق ناوخته راغې نو روسته والے به ئې کولو. او د سحر مونځ به ئې په تیارهٔ کښې کولو[1].

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ الْحَجَّاجُ يُؤَخِّرُ الصَّلَوَاتِ فَسَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ بِمِثْلِ حَدِيثِ غُنْدَرٍ

محمد بن عمرو بن حسن بن علي ؓ ویلي دي چه حجّاج به په مونځونو کښې وخت تیرولو. نو مونږ د جابر ؓ نه تپوس اوکړو. هغوی هغه روایت بیان کړو. کوم چه اوس پورته تیر شو. چه هغې لره غندر روایت کړے دے.

عَنْ سَيَّارِ بْنِ سَلَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَسْأَلُ أَبَا بَرْزَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ آنْتَ سَمِعْتَهُ قَالَ فَقَالَ كَأَنَّمَا أَسْمَعُكَ السَّاعَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَسْأَلُهُ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ لَا يُبَالِي بَعْضَ تَأْخِيرِهَا قَالَ يَعْنِي الْعِشَاءَ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ وَلَا يُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَلَا الْحَدِيثَ

سیّار بن سلامه ویلي دي چه ما د خپل پلار نه اوریدلي دي چه هغهٔ تپوس کړے وو د ابوبرزه ؓ نه د رسول الله ﷺ د مانځهٔ د حال. شعبه اووے. ولې تا د ابوبرزه ؓ نه اوریدلي دي؟ هغوی اووے داسې لکه چه زهٔ اوس اورم (یعنې ماته داسې یاد دي) بیا سیّار اووے چه ما د خپل پلار نه اوریدلي دي چه هغهٔ د ابوبرزه ؓ نه د رسول الله ﷺ د مانځهٔ د حال تپوس کړے وو. نو هغوی اووے چه هغهٔ به پروا نهٔ ساتله کهٔ په ماسختن کښې د نیمې شپې پورې روسته والے به راغې. او د هغې نه مخکښې به ئې اودهٔ کیدل ښهٔ نهٔ ګڼړل او نهٔ د هغې نه پس خبرو کولو لره.

---

[1] ددے نه ثابته شوه چه د ماسپخین اول وخت ادا کول مستحب دي، او ماښام صرف د نمر د ډوبیدو سره. او په ماسختن کښې د جمع د حاضریدو او د هغوی خاطر کول ضروري دے.

بَعْدَهَا قَالَ شُعْبَةُ ثُمَّ لَقِيتُهُ بَعْدُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ وَكَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ حِينَ تَزُولُ الشَّمْسُ وَالْعَصْرَ يَذْهَبُ الرَّجُلُ إِلَى أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ قَالَ وَالْمَغْرِبَ لَا أَدْرِي أَيَّ حِينٍ ذَكَرَ قَالَ ثُمَّ لَقِيتُهُ بَعْدُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ وَكَانَ يُصَلِّي الصُّبْحَ فَيَنْصَرِفُ الرَّجُلُ فَيَنْظُرُ إِلَى وَجْهِ جَلِيسِهِ الَّذِي يَعْرِفُ فَيَعْرِفُهُ قَالَ وَكَانَ يَقْرَأُ فِيهَا بِالسِّتِّينَ إِلَى الْمِائَةِ

شعبه ویلی دی چه زهٔ بیا د هغهٔ سره (یعنی د سیّار سره) میلاؤ شوم او تپوس م تر نه اوکړو. نو هغوی اووے چه ما سپخین به ئے هغه وخت کولو کله چه به نمر زوال اوموندو. او مازیگر کله چه به سړے تلو (یعنی د مازیگر د مانځهٔ نه پس) د مدینے د غاړے پورے او په نمر کښ به گرمی وه. او ویلی دی چه د مابنام نه زهٔ نهٔ یم خبر چه څهٔ ئے ذکر کړل ما د هغوی سره بیا ملاقات اوکړو او تپوس م تر نه اوکړو. نو هغوی اووے چه سحر به ئے داسے وخت کولو چه د مانځهٔ نه پس به سړی خپل ملگرے اولیدو چه هغه به ئے پیژندلو نو هغه به ئے اوپیژندو. او په هغے کښ به ئے د شپیتو ایتونو نه د سلو پورے لوستل[1].

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَالِي بَعْضَ تَأْخِيرِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ وَكَانَ لَا يُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَلَا الْحَدِيثَ بَعْدَهَا قَالَ شُعْبَةُ ثُمَّ لَقِيتُهُ مَرَّةً أُخْرَى فَقَالَ أَوْ ثُلُثِ اللَّيْلِ

ابوبرزهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ پرواه نهٔ ساتله کهٔ چرے په ماسختن کښ به د نیمے شپے پورے روسته والے راغے. او د هغے نه مخکښ اودهٔ کیدو لره. او د هغے نه پس خبرو لره به ئے بد گنړلو. شعبه ویلی دی. چه زهٔ د هغهٔ سره بیا میلاؤ شوم نو هغوی اووے یا د دریمے حصے د شپے پورے.

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤَخِّرُ الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ وَيَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا وَكَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ مِنَ الْمِائَةِ إِلَى السِّتِّينَ وَكَانَ يَنْصَرِفُ حِينَ يَعْرِفُ بَعْضُنَا وَجْهَ بَعْضٍ

ابوبرزه اسلمیؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ به د ماسختن مونځ د شپے په دریمه حصه کښ کولو. او د هغے نه مخکښ خوب لره او روستو خبرو لره به ئے بدے گنړلے. او د سحر په مانځهٔ کښ به ئے د سلو ایتونو نه د شپیتو پوری لوستلو. او په داسے وخت به فارغ کیدو چه یو به د بل مخ لره پیژندهٔ.

بَابُ كَرَاهِيَةِ تَأْخِيرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا

باب : د صحیح او مستحب وخت نه مونځ روسته

[1] د ماسختن د مانځهٔ نه مخکښ اودهٔ کیدو لره بهنے خکه بد گنړل چه په هغے کښ د مانځهٔ د قضاء کیدو یا د مختار او بنکلی وخت د تیریدو احتمال دے. او د هغے نه پس خبرو لره ئے خکه بدے گنړلے. چه احتمال دے چه زیات ویښ پاتے شی او بیا تهجدو ته پاسیدے نهٔ شی. یا د زیات ویخ پاتے کیدو په وجه د ورځے په ضروری کارونو کښ تنگی شی.

الْمُخْتَارِ وَمَا يَفْعَلُهُ الْمَأْمُومُ إِذَا أَخَّرَهَا الْإِمَامُ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ كَيْفَ أَنْتَ إِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ أُمَرَاءُ يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ يُمِيتُونَ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا قَالَ قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِي قَالَ صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا فَإِنْ أَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ فَصَلِّ فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ وَلَمْ يَذْكُرْ خَلَفٌ عَنْ وَقْتِهَا

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّهُ سَيَكُونُ بَعْدِي أُمَرَاءُ يُمِيتُونَ الصَّلَاةَ فَصَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا فَإِنْ صَلَّيْتَ لِوَقْتِهَا كَانَتْ لَكَ نَافِلَةً وَإِلَّا كُنْتَ قَدْ أَحْرَزْتَ صَلَاتَكَ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ إِنَّ خَلِيلِي أَوْصَانِي أَنْ أَسْمَعَ وَأُطِيعَ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا مُجَدَّعَ الْأَطْرَافِ وَأَنْ أُصَلِّيَ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا فَإِنْ أَدْرَكْتَ الْقَوْمَ وَقَدْ صَلَّوْا كُنْتَ قَدْ أَحْرَزْتَ صَلَاتَكَ وَإِلَّا كَانَتْ لَكَ نَافِلَةً

كول مکروه دي. او كله چه امام داسے اوكړي نو مقتديانو لره څۀ پكار دي

ابوذرؓ وايي دي چه رسول الله ﷺ اوفرمايل. تاسو به څۀ كوئ كله چه په تاسو باندے به داسے اميران راشي. چه مونځ به په آخر وخت كښې ادا كوي يائے اوفرمايل چه مونځ لره به فوت كړي د هغے د وخت نه ما عرض اوكړو چه بيا تاسو ماته څۀ حكم فرمايئ. حضرت ﷺ اوفرمايل چه تۀ ئے په خپل وخت باندے ادا كوه. بيا كۀ چرے د هغوي سره هم اتفاق راشي. نو بيائے ادا كړه چه هغه به ستا دپاره نفل شي. او خلف كوم چه راوي دے. هغه د عَنْ وَقْتِهَا د لفظ روايت نۀ دے كړے[1].

ابوذرؓ وايي دي چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمايل اے ابوذرؓ! ځما نه پس به داسے حاكمان شي چه هغه به مونځ فوت كړي (يعني په آخر وخت كښې به ئے ادا كوي) نو تۀ خپل مونځ په خپل وخت باندے كوه. بيا كۀ چرے هغوي په وخت اوكړو خو خير. كۀ نۀ وي نو هغه مونځ كوم چه هغوي سره تا اوكړو هغه نفل شو. گني تا خو خپل مونځ لره بچ كړو.

ابوذرؓ وايي دي. ځما دوست (يعني رسول الله ﷺ) ماته وصيت فرمايلے دے. چه زۀ دِ د حاكم خبره اورم او د هغۀ وينادِ منم. اگر چه يو لاس خپه كټ شوے غلام وي. او دا چه زۀ دِ په خپل وخت مونځ كوم. بيا كۀ چرے خلقو لره اومومے چه هغه مونځ كوي. نو تا خپل مونځ د مخكښې نه محفوظ كړے دے. او كۀ نۀ وي نو هغه ستا

[1] نووي رحمه الله وايي دي چه د تاخير نه د صحيح وخت نه تاخير كول مراد دي يعني كله چه امام د صحيح وخت نه تاخير كوي نو تۀ ئے يواځے لوله. بيا كۀ چرے جمع له تلل وي نو دوباره ئے ادا كوه. چه په جماعت كښې كمے رانۀ شي. او فتنه جوړه نۀ شي. او د سحر او د مازيگر نه پس دوباره اعاده مۀ كوه. ځكه چه د هغے نه پس نفل جاز نۀ دي. او د دے حديث نه معلومه شوه چه فرض هغه دي كوم چه مخكښې ادا شو

دپاره نفل شو (یعنی کوم چه د دوباره د هغوی سره ادا کړو)

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَرَبَ فَخِذِي كَيْفَ أَنْتَ إِذَا بَقِيتَ فِي قَوْمٍ يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا قَالَ قَالَ مَا تَأْمُرُ قَالَ صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا ثُمَّ اذْهَبْ لِحَاجَتِكَ فَإِنْ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَأَنْتَ فِي الْمَسْجِدِ فَصَلِّ

ابوذرؓ وېلی دی چه رسول اللهﷺ اوفرمایل. او څما ورون ئې په لاس باندے اووهو چه څۀ به کوے تۀ چه کله په داسے خلقو کښې پاتې شې. چه هغه مونځ روستو کوی د هغې د وخت نه؟ نو هغوی عرض اوکړو چه تۀ څۀ حکم کوے؟ هغۀ اوفرمایل. چه تۀ په خپل وخت باندے مونځ کوه او بیا خپل کار له څه. بیا کۀ چرے تکبیر اوشی او تۀ په جماعت کښې ئې نو د خلقو سره ادا کوه.

عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ الْبَرَّاءِ قَالَ أَخَّرَ ابْنُ زِيَادٍ الصَّلَاةَ فَجَاءَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ الصَّامِتِ فَأَلْقَيْتُ لَهُ كُرْسِيًّا فَجَلَسَ عَلَيْهِ فَذَكَرْتُ لَهُ صَنِيعَ ابْنِ زِيَادٍ فَعَضَّ عَلَى شَفَتِهِ وَضَرَبَ فَخِذِي وَقَالَ إِنِّي سَأَلْتُ أَبَا ذَرٍّ كَمَا سَأَلْتَنِي فَضَرَبَ فَخِذِي كَمَا ضَرَبْتُ فَخِذَكَ وَقَالَ إِنِّي سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا سَأَلْتَنِي فَضَرَبَ فَخِذِي كَمَا ضَرَبْتُ فَخِذَكَ وَقَالَ صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا فَإِنْ أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ مَعَهُمْ فَصَلِّ وَلَا تَقُلْ إِنِّي قَدْ صَلَّيْتُ فَلَا أُصَلِّي

ابوالعالیه وېلی دی چه ابن زیاد یو ورځ ناوخته کړو. او عبد الله بن صامت څما خواله راغې او ما د هغۀ دپاره کرسئ کېښنوده هغه په هغې کیناستو. او ما هغۀ ته د ابن زیاد د کار ذکر اوکړو. نو هغوی شونډے اوچیچلے (یعنی د افسوس او غصے نه) او څما ورون ئې په لاس اووهو او اوئې وېل چه ما د ابوذرؓ نه تپوس اوکړو. لکه څنګه چه تا تپوس اوکړو. نو هغوی څما ورون اووهو لکه چه څنګه ما ستا ورون په لاس اووهو. او اوئې وېل چه ما د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو لکه چه تا څما نه تپوس اوکړو او هغۀ څما ورون په لاس اووهو لکه چه ما ستا ورون په لاس اووهو. او اوئې فرمایل. چه تۀ مونځ ادا کوه په خپل وخت باندے. بیا کۀ چرے تا ته د هغوی سره هم مونځ میلاؤ شی نو د هغو سره هم مونځ کوه. او دا مۀ وایه چه ما کړے دے اوس نۀ کوم (ځکه چه په دې سره په جماعت کښې کمے راځي).

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ كَيْفَ أَنْتُمْ أَوْ قَالَ كَيْفَ أَنْتَ إِذَا بَقِيتَ فِي قَوْمٍ يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا فَصَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا ثُمَّ إِنْ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلِّ مَعَهُمْ فَإِنَّهَا زِيَادَةُ خَيْرٍ

ابوذرؓ وېلی دی چه څۀ به کیږی کله چه تۀ باقی پاتے شے په داسے خلقو کښې چه هغه مانځۀ لره د خپل وخت نه روستو کوی. نو تۀ هغې لره د هغې په وخت کوه. بیا کۀ چرے تکبیر اوشی نو تۀ د خلقو سره هم مونځ کوه. ځکه چه په دے کښې د نیکو زیاتوالے دے.

عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ الْبَرَّاءِ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ الصَّامِتِ نُصَلِّي يَوْمَ الْجُمُعَةِ خَلْفَ أُمَرَاءَ فَيُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ قَالَ فَضَرَبَ فَخِذِي ضَرْبَةً أَوْجَعَتْنِي وَقَالَ سَأَلْتُ أَبَا ذَرٍّ عَنْ ذَلِكَ فَضَرَبَ فَخِذِي وَقَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ صَلُّوا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا وَاجْعَلُوا صَلَاتَكُمْ مَعَهُمْ نَافِلَةً قَالَ وَقَالَ عَبْدُ اللهِ ذُكِرَ لِي أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ فَخِذَ أَبِي ذَرٍّ

ابوالعالیه ویلی دی چه ما عبد الله بن صامت ته اووے چه مونږ د جمعے په ورځ په حاکمانو پسے مونځ کوو. او هغه مانځهٔ لره په آخر وخت بانده ے ادا کوی. ابوالعالیه ویلی دی چه عبد الله ځما په ورون بانده ے یو لاس اووهو چه په هغے سره ماته درد شروع شو. او اوئے ویل چه ما د ابوذرؓ نه دد ے خبر ے تپوس کړے وو. نو هغوی هم ځما ورون په لاس اووهو او اوئے فرمایل چه ما هم د رسول اللهﷺ نه دد ے خبر ے تپوس کړے وو. نو هغهٔ اوفرمایل چه ته په خپل مسنون وخت مونځ کوه.او د هغوی سره مانځهٔ لره نفل کوه.(روای) ویلی دی چه عبد الله اووے چه ماته ذکر کړے شوی وو چه رسول اللهﷺ هم د ابوذرؓ ورون په لاس سره وهلے وو.

بَاب فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ وَبَيَانِ التَّشْدِيدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهَا وَأَنَّهَا فَرْضُ كِفَايَةٍ

باب : د جمع د مانځهٔ فضیلت او د هغے په پریخودو بد او د هغے د فرض کفایه کیدو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ أَحَدِكُمْ وَحْدَهُ بِخَمْسَةٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا

ابوهریرهؓ ویلی دی. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه د جمع مونځ د خانله مونځ کونکی د مانځهٔ نه پنځویشت درجے غوره د ے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ تَفْضُلُ صَلَاةٌ فِي الْجَمِيعِ عَلَى صَلَاةِ الرَّجُلِ وَحْدَهُ خَمْسًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً قَالَ وَتَجْتَمِعُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا

ابوهریرهؓ ویلی دی. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. د جمع مونځ د خانله مونځ نه پنځویشت درجے غوره د ے. او فرښتے د شپے او د ورځے د سحر په مانځهٔ کښ جمع کیږی. ابوهریره ویلی دی کهٔ چرے غواړئ نو دا ایت لولئ: وَقُرْآنَ الْفَجْرِ الخ یعنی قران کریم د سحر د حاضریدلو سبب د ے (یعنی د فرښتو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَعْدِلُ خَمْسًا وَعِشْرِينَ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ

ابوهریرهؓ ویلی دی. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. د جمع مونځ د خانله سړی د پنځویشتو مونځونو برابر د ے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

ابوهریرهؓ ویلی دی. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. د امام

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةٌ مَعَ الْإِمَامِ أَفْضَلُ مِنْ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ صَلَاةً يُصَلِّيهَا وَحْدَهُ

سره یو مونځ د ځانله پنځویشتو مونځونو نه غوره دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی د جماعت مونځ د ځانله مونځ کولو نه اووبشت درجے غوره دے.

عَنِ ابْنِ نُمَيْرٍ عَنْ أَبِيهِ بِضْعًا وَعِشْرِينَ وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ فِي رِوَايَتِهِ سَبْعًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً

ابن نمیر د خپل پلار نه په دے روایت کښں په شلو باندے څو درجے روایت کړے دے . او ابوبکر په خپل روایت کښں د اویشتو درجو روایت کړے دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِضْعًا وَعِشْرِينَ

ابن عمرؓ روایت کړے دے د رسول الله ﷺ نه چه هغهٔ په سلو باندے څو درجے فرمایلی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدَ نَاسًا فِي بَعْضِ الصَّلَوَاتِ فَقَالَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنْهَا فَآمُرَ بِهِمْ فَيُحَرِّقُوا عَلَيْهِمْ بِحُزَمِ الْحَطَبِ بُيُوتَهُمْ وَلَوْ عَلِمَ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ يَجِدُ عَظْمًا سَمِينًا لَشَهِدَهَا يَعْنِي صَلَاةَ الْعِشَاءِ

ابوهریرهؓ وایی دی چه رسول الله ﷺ ځنو خلقو لره په یو مانځهٔ کښں او نهٔ موندهٔ. نو اوئے فرمایل ما اراده کړے ده. چه یو سړی ته حکم اوکړم چه د مانځهٔ امامت اوکړی. او زهٔ لاړ شم د هغوی په طرف کوم چه مانځهٔ له راغلی نهٔ دی او حکم اوکړم چه د لرګو یو غټ ډیرے جمع کړی او د هغوی کورونه اوسیزی. او کهٔ چرے یو سړی یو هډوکے د خورب خناور بیاموندے نو ضرور به راتلو. مراد هغهٔ د ماسختن مونځ وو (یعنی مانځهٔ له نهٔ راځی او د هډوکی واوری منډے وهی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَثْقَلَ صَلَاةٍ عَلَى الْمُنَافِقِينَ صَلَاةُ الْعِشَاءِ وَصَلَاةُ الْفَجْرِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا وَلَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَتُقَامَ ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيُصَلِّيَ بِالنَّاسِ ثُمَّ أَنْطَلِقَ مَعِي بِرِجَالٍ مَعَهُمْ حُزَمٌ مِنْ حَطَبٍ إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْهَدُونَ الصَّلَاةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ بِالنَّارِ

ابوهریرهؓ وایی دی. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه مونځ د ماسختن او د سحر په منافقانو باندے ډیر سخت دے. کهٔ د دے د اجر نه خبر وے. نو د زنګونانو په سرونو به راتلل او ما خو اراده کړے ده چه د مانځهٔ حکم ورکړم چه قائم کړے شی او یو سړی ته اووایم چه خلقو ته مونځ ورکوی. بیا څهٔ خلقو لره د ځان سره ملګری کړم او د لرګو یو ډهیرے د ځان سره واخلو او لاړ شو. کوم خلق چه مانځهٔ له نهٔ دی راغلی د هغوی کورونو لره اوسیزو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ فِتْيَانِي أَنْ يَسْتَعِدُّوا لِي بِحُزَمٍ مِنْ حَطَبٍ ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ تُحَرَّقُ بُيُوتٌ عَلَى مَنْ فِيهَا

ابوهريرة د رسول الله ﷺ نه څو احاديث روايت كړي دي. او دائے هم روايت كړے دے چه حضرت ﷺ اوفرمايل: ما اراده كړے ده چه خپلو ځوانانو ته حكم اوكړم چه لرګي را جمع كړي او يو سړي ته حكم اوكړم چه خلقو ته مونځ وركړي. او د خلقو سره يو ځائے د هغوي كور اوسيزم (يعني څوك چه مانځۀ لره نۀ راځي)

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَوْمٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ أُحَرِّقَ عَلَى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوتَهُمْ

عبد الله د رسول الله ﷺ نه روايت كړے دے. چه هغۀ اوفرمايل. چه كوم خلق په جمعه كښې نۀ حاضريږي د هغوي په حق كښې اراده كوم چه حكم اوكړم يو سړي ته چه خلقو ته مونځ اوكړه بيا زۀ اوسيزم د هغه خلقو كورونه كوم چه جمعے ته نۀ دي راغلي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمَى فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ فَسَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِي بَيْتِهِ فَرَخَّصَ لَهُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَجِبْ

ابوهريرة ويلي دي چه رسول الله ﷺ له يو نابينا سړے راغے او عرض ئې اوكړو چه اے د الله رسوله! ځما څوك دلاس نيولو والا او جماعت ته راوستلو والا نشته. او هغه غوښتل چه كۀ حضرت ﷺ اجازت راكړي. نو په كور كښې به مونځ ادا كوم. حضرت ﷺ هغۀ ته اجازت وركړو. بيا چه كله واپس كيدو نو حضرت ﷺ ورته اوفرمايل. تۀ اذان اورے؟ هغۀ عرض اوكړو. آو. حضرت ﷺ ورته اوفرمايل. تۀ جماعت ته راتلل كوه[1].

عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنِ الصَّلَاةِ إِلَّا

ابوالاحوص ويلي دي چه عبد الله وائي چه مونږ خلق دا خيال كوو چه د جمع د مانځۀ نه روستو نه پاتے كيږي مګر منافق (يعني

[1] نووي رحمه الله ويلي دي چه سوال كونكے عبدالله بن مكتوم رضي الله عنه وو. دغه رنګے په سنن ابوداؤد كښې مُفصل راغلي دي. او په دے حديث كښې دليل دے د هغه چا چه هغه د جماعت د فرض كيدو قائل دي. او جمهورو (يعني د چا په نز چه جماعت واجب دے) دا جواب وركړے دے چه د هغۀ د تپوس مطلب دا وو چه زۀ مونځ په كور كښې ادا كړم او ثواب د جماعت حاصل كړم د خپل عذر په وجه سره نو دا هغۀ صلعم قبول او نۀ فرمايل. او تائيد د جمهورو په دے طور باندے هم كيدے شي چه جماعت د عذر په وجه معاف كيږي په دے باندے د ټولو مسلمانانو اجماع ده. او په دے باندے دليل د عتبان بن مالك روايت دے. چه هغه به په ورانداے باب كښې راشي. ان شاء الله تعالى

مُنَافِقٌ قَدْ عُلِمَ نِفَاقُهُ أَوْ مَرِيضٌ إِنْ كَانَ الْمَرِيضُ لَيَمْشِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ حَتَّى يَأْتِيَ الصَّلَاةَ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدَى وَإِنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى الصَّلَاةَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُؤَذَّنُ فِيهِ

پريخودونکے د جمع لره مونږ منافق ګڼړو چه د هغهٔ نفاق ښکاره وی يا ناجوړه وی. او ناجوړه به هم د دوو سړو په اوګو باندے لاسونه ايخی وو او راتلو به او په مانځهٔ کښ به ميلاويدو (يعنی د رسول الله ﷺ په زمانه کښ)، او هغوی ويلی دی چه رسول الله ﷺ به مونږ ته ددين او د هدايت خبرے ايزده کولے. او دغه د هدايت د خبرو نه ده. په داسے جماعت کښ مونځ کول چه په هغے کښ اذان کيږی[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللهَ غَدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ عَلَى هَؤُلَاءِ الصَّلَوَاتِ حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ فَإِنَّ اللهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُنَنَ الْهُدَى وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هَذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هَذِهِ الْمَسَاجِدِ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً وَيَرْفَعُهُ بِهَا دَرَجَةً وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ يُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ

عبد الله ويلی دی چه په چا دا ښهٔ لږی چه زهٔ د د الله سره ملاقات اوکړم د قيامت په ورځ. نو ضروری ده چه هغه د مونځونو حفاظت کوی کوم ځائے چه اذان کيږی. ځکه الله تعالی ستاسو نبی داهرے طريقے مقرر کړی دی او دا مونځونه هم په هغے کښ دی. کهٔ چرے تاسو هغے لره په کور کښ لولئ. لکه چه د فلانی جماعت پريخودونکے په کور کښ لولی. نو بيشکه تاسو د خپل نبی ﷺ طريقه پريخوده. او کهٔ چرے تاسو د خپل نبیؐ طريقه پريخوده نو بيشکه تاسو ګمراه شوئ. او څوک داسے نشته چه طهارت اوکړی او په ښهٔ شان سره طهارت اوکړی. بيا د هغه جماعتونو نه د يو جماعت اراده اوکړی. مګر الله تعالی د هغهٔ په هر قدم باندے چه هغه اړدی يوه نيکی ليکی او يوه درجه اوچتوی او يوه بدی کموی. او مونږ خپل ځان داسے ليدهٔ چه د جماعت نه غير نهٔ حاضريږی مګر منافق چه د هغهٔ نفاق ښکاره شوے وو او سړی به د دوو سړو په اوګو باندے لاس ايخودو تلو تر دے پورے چه په صف کښ به اودرولے شو[2].

[1] دد ے تولو حديثو نو نه په جماعت کښ د حاضريدو وجوب ثابتيږی. او د جمهورو دغه مذهب دے او دد ے حديث نه مشقت برداښت کول او جماعت ته راتلل ثابتيږی.

[2] دد ے حديث نه معلومه شوه چه دومره قدرے بيمار لره هم جماعت ته راتلل مستحب دی.

عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ قَالَ كُنَّا قُعُودًا فِي الْمَسْجِدِ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ فَأَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْمَسْجِدِ يَمْشِي فَأَتْبَعَهُ أَبُو هُرَيْرَةَ بَصَرَهُ حَتَّى خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ ﷺ

ابوالشعثاء ویلی دی چه مونږ په جماعت کښې د ابوهریرهؓ سره ناست وو چه مؤذن اذان اوکړو. یو سړے د جماعت نه پاسیدو او روان شو ابوهریرهؓ ورته کتل تردے پورے چه هغه بهر لاړو. بیا ابوهریرهؓ اووے. چه دغه سړی د ابا القاسم ﷺ نافرمانی اوکړو.

عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ الْمُحَارِبِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ وَرَأَى رَجُلًا يَجْتَازُ الْمَسْجِدَ خَارِجًا بَعْدَ الْأَذَانِ فَقَالَ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابوالشعثاء ویلی دی چه ما د ابوهریرهؓ نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو. دغه سړی نافرمانی اوکړه . د حضرت ابا القاسم (محمد رسول الله ﷺ) دائے هغه کس ته اووے چه روستو د اذان نه بهر ته لاړو[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ قَالَ دَخَلَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْمَسْجِدَ بَعْدَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقَعَدَ وَحْدَهُ فَقَعَدْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ يَا ابْنَ أَخِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ

عبد الرّحمٰن بن ابی عمره ویلی دی چه عثمان بن عفانؓ جماعت ته راغے او یواځے کیناستو. هغوی اوفرمایل اے خما ورارهٔ ! ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی . چه هغهٔ فرمایلی وو. چا چه د ماسختن مونځ د جماعت سره ادا کړو. نو داسے شوه لکه چه د نیمے شپے پورے نفل ئے ادا کړو (یعنی ثواب به داسے اومومی) او چا چه د سحر مونځ د جماعت سره اوکړو. نو داسے شوه لکه چه ټوله شپه مونځ ادا کړی[2].

عَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللهِ فَلَا

جندب بن عبد اللهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چا چه د سحر مونځ اوکړو هغه د الله په پناه کښې دے. بیا چه الله ﷻ د خپلے پناه حق د چا نه طلب کوی هغهٔ لره نه پریږدی او هغهٔ لره جهنم کښې غورځوی (یعنی کهٔ

[1] ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه د اذان نه پس د جماعت نه وتل نه دی پکار د کومے پورے چه فرض ئے ادا کړی نهٔ وی. مګر د هغه سړی دپاره چه هغه عذر لری . لکه د بل جماعت امام وی. یا وړوو بولو او لویو بولو ته لاړ شی او بیا د واپس راتلو نیت لری.

[2] ددے حدیث نه د دواړو مونځونو په جماعت سره د ادا کولو لوئے ثواب معلوم شو. لکه چه دواړه مونځو نه چا د جماعت سره ادا کړل هغه په آرام سره خوب هم او د نیمے شپے پورے د عبادت ثواب هم اوموندو. سبحان الله ! په سنتو کښې څومره مزه ده. چه په آرام سره خوب هم میلاویږی او زیات ثواب هم

يَطْلُبَنَّكُمُ اللهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ فَيُدْرِكَهُ فَيَكُبَّهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ

چرې هغۀ لره تنگوی چا چه د سحر مونځ ادا کړې نو لکه چه د الله په پناه کښې ئې خلل او غورځوو او د هغۀ حق ئې تلف کړو)

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ بِعُذْرٍ

باب : د عذر په وخت د جمعې معاف کیدل

عَنْ بْنِ مَالِكٍ وَهُوَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي قَدْ أَنْكَرْتُ بَصَرِي وَأَنَا أُصَلِّي لِقَوْمِي وَإِذَا كَانَتِ الْأَمْطَارُ سَالَ الْوَادِي الَّذِي بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ وَلَمْ أَسْتَطِعْ أَنْ آتِيَ مَسْجِدَهُمْ فَأُصَلِّيَ لَهُمْ وَدِدْتُ أَنَّكَ يَا رَسُولَ اللهِ تَأْتِي فَتُصَلِّيَ فِي مُصَلًّى فَأَتَّخِذَهُ مُصَلًّى قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَفْعَلُ إِنْ شَاءَ اللهُ قَالَ عِتْبَانُ فَغَدَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ حِينَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ فَاسْتَأْذَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَذِنْتُ لَهُ فَلَمْ يَجْلِسْ حَتَّى دَخَلَ الْبَيْتَ ثُمَّ قَالَ أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ مِنْ بَيْتِكَ قَالَ فَأَشَرْتُ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَبَّرَ فَقُمْنَا وَرَاءَهُ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ قَالَ وَحَبَسْنَاهُ عَلَى خَزِيرٍ صَنَعْنَاهُ لَهُ قَالَ فَثَابَ رِجَالٌ مِنْ أَهْلِ الدَّارِ حَوْلَنَا حَتَّى اجْتَمَعَ فِي الْبَيْتِ رِجَالٌ ذَوُو عَدَدٍ فَقَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ أَيْنَ مَالِكُ بْنُ الدُّخْشُنِ فَقَالَ

عتبانؓ چه د نبی کریم ﷺ صحابی دے. او په بدر کښې حاضر شوے دے او د انصارو نه دے. هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو. اے د الله رسوله! ځما د سترگو نظر تلے دے. او زۀ د قوم امامت کوم. او کله چه باران اووریږی او نالئ رااوخی. چه هغه ځما او د هغوی په مینځ کښې ده. نو زۀ د هغوی جماعت ته نه شم تلے چه د هغوی امامت اوکړم. او اے د الله رسوله! ځما آرزو ده، چه تاسو تشریف راوړئ او په یو ځائے (ځما په کور کښې) مونځ ادا کړئ. د دے دپاره چه زۀ هغې لره د مانځۀ ځائے مقرر کړم. بیا رسول الله ﷺ اوفرمایل. چه ښۀ ده. زۀ به داسې اوکړم کۀ چرې الله ته منظوره وی. عتبانؓ ویلی دی. بیا سحر له رسول الله ﷺ تشریف راوړو. او ابوبکرؓ هم ورسره وو. بیا چه څۀ لره ورځ اووته نو رسول الله ﷺ آواز اوکړو او ما هغۀ لره رااوغوښتو او حضرت ﷺ چه کله کور ته راغے نو کینۀ ناستلو. او اوئې فرمایل. چه تۀ کوم ځائے غواړې چه زۀ مونځ ادا کړم ستا په کور کښې؟ هغوی وائی چه ما ورته یوه طرف اوښودو. او هغۀ اودریدو او الله اکبر ئې اووے. او مونږ ټول په هغۀ ورپسې اودریدو او هغۀ دوه رکعته مونځ اوکړو او سلام ئې اوگرځوو. او مونږ هغۀ حصار کړو د غوښې دپاره چه د هغه دپاره پخه شوے وه. او د محلے خلق هم راغلل تردے پورے چه څو سړی جمع شول په کور کښې. بیا د هغوی نه یو سړی اووے. چه مالک بن دخشن کوم ځائے دے. الله او د هغۀ رسول ﷺ

بَعْضُهُمْ .ذٰلِكَ مُنَافِقٌ لَا يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُلْ لَهٗ ذٰلِكَ أَلَا تَرَاهُ قَدْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يُرِيدُ بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ قَالَ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّمَا نَرٰى وَجْهَهٗ وَنَصِيحَتَهٗ لِلْمُنَافِقِيْنَ قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَبْتَغِي بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ ثُمَّ سَأَلْتُ الْحُصَيْنَ بْنَ مُحَمَّدٍ الْأَنْصَارِيَّ وَهُوَ أَحَدُ بَنِي سَالِمٍ وَهُوَ مِنْ سَرَاتِهِمْ عَنْ حَدِيثِ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ فَصَدَّقَهٗ بِذٰلِكَ

ته دوست نۀ وائی. نو رسول الله ﷺ اوفرمايل داسے مۀ وايه هغۀ ته. تۀ نۀ ګورے چه هغه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وائی. په دے کلمه سره د الله رضا مندی غواړی. خلقو اووے الله او د هغۀ رسولؐ ښۀ پوهيږی. بيا يو سړی اووے چه مونږه د هغۀ توجه او خير خواهی د منافقانو سره وينو. بيا رسول الله ﷺ اوفرمايل. چه الله تعالی حرام کړے دے په اُور باندے هغه چا لره چه هغه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وائی. او د دے په وينا سره د الله رضا غواړی. ابن شهابؒ ويلی دی. بيا ما دحصين بن محمد انصاریؓ نه د دے روايت په باره کښې تپوس اوکړو. کوم چه محمود بن ربيع روايت کړے دے. بيا هغوی (يعنی حصين بن محمد انصاری) د دے روايت تصديق اوکړو. او هغه يعنی حصين بن محمد انصاری د بنی سالم (د قبيلے) سردار دے[1].

عَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ رَبِيعٍ عَنْ عِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنٰى حَدِيثِ يُوْنُسَ غَيْرَ أَنَّهٗ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ أَيْنَ مَالِكُ بْنُ الدُّخْشُنِ

محمود د عتبانؓ نه روايت کړے چه هغوی ويلی دی چه زۀ د رسول الله ﷺ حضور ته راغلم. او د يونس هم معنٰی روايت ئے بيان کړو (يعنی کوم چه پورته ذکر شو) مګر دومره خبره زياته وه. چه يو سړی اووے. کوم ځائے دے مالک بن دخشن يائے مالک بن دخيش

---

[1] په دے حديث کښې څو فائدے دی. يوه دا چه د چا سره وعده اوکړے نو انشاء الله وايه. دويم د نيکانو سره او د هغوی د نښانونو او مقامونو سره برکت تلاش کول. دريم د نيکانو په ځائے مونځ ادا کول. څلورم د غوره سړی دعوت قبلول. او د ځان نه د کمے درجے والا کورته تلل. پنځم د عذر په وجه سره د جماعت معاف کيدل. شپږم د امام او د عالم سره د هغه د دوست تلل. اووم د بهر نه د راغلی بنده د کور والا نه اجازت غوښتل. اتم دا چه ړومبے ددين او صحيح کار شروع کړی خکه چه مخکښې هغۀ مونځ ادا کړو. نهم د نفلو په جماعت سره ادا کول. لسم د ورځے د دوه رکعته مونځ کيدل په شان د شپے د مونځ. او د شافعيو او جمهورو دغه مذهب دے. يولسم د دے مستحب کيدل چه محلے ته يو نيک سړے راشی نو د هغۀ د ميلاويدو دپاره راتلل. او د هغۀ د زيارت نه مشرف کيدل. او د هغۀ د صحبت نه فيض اوچتول او دغه حق دے د هر عالم ديندار په تولو مسلمانانو. دولسم په کور کښې د مونځ ځائے مقرر کول جائز دی په خلاف د جماعت. ديارلسم د بدو خبرو نه د چا منع کول. څوارلسم دا چه په صدق د زړۀ سره د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ويونکے به هميشه په جهنم کښې نۀ پاتے کيږی. د دے نه سوا نورے ډيرے فائدے دی. چه د اوږدوالی د يرے نه نے په تحرير کښې نۀ شو راوستے (نووی رحمه الله)

أَوِ الدُّخْيْشِنِ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ مَحْمُودٌ فَحَدَّثْتُ بِهٰذَا الْحَدِيثِ نَفَرًا فِيهِمْ أَبُو أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ مَا أَظُنُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا قُلْتَ قَالَ فَحَلَفْتُ إِنْ رَجَعْتُ إِلَى عِتْبَانَ أَنْ أَسْأَلَهُ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَوَجَدْتُهُ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ ذَهَبَ بَصَرُهُ وَهُوَ إِمَامُ قَوْمِهِ فَجَلَسْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَسَأَلْتُهُ عَنْ هٰذَا الْحَدِيثِ فَحَدَّثَنِيهِ كَمَا حَدَّثَنِيهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ قَالَ الزُّهْرِيُّ ثُمَّ نَزَلَتْ بَعْدَ ذٰلِكَ فَرَائِضُ وَأُمُورٌ نُرَى أَنَّ الْأَمْرَ انْتَهَى إِلَيْهَا فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَغْتَرَّ فَلَا يَغْتَرَّ

اووے او دائے هم زیات کړے دے چه محمود ویلی دی ما دا روایت په څو سړو کښ بیان کړو. په هغے کښ ابو ایوب انصاری هم وو. نو هغوی اووے چه زۀ ګمان نۀ کوم چه رسول الله ﷺ به دا خبره فرمایلی وی کومه چه تۀ وائے بیا ما قسم او خوړو چه زۀ خم او د عتبان نه تپوس کوم. نو زۀ د هغوی خواله لاړم. او هغه م ډیر بوډا اوموندو چه د سترګو نظر ئے تلے وو. او هغه د خپل قوم امام وو. زۀ د هغۀ په څنګ کښ کیناستم او ما د هغۀ نه ددغه حدیث تپوس اوکړو. نو هغۀ ما ته هم هغسے بیان اوکړو. لکه چه څنګه وړاندے بیان شوے وو. زهری ویلی دی چه د هغے نه پس نور څیزونه فرض شو. او ډیر احکام الٰهی نازل شو چه په هغے مونږ پوهه یو چه کار په هغے ختم شو. بیا چه څوک دا غواړی چه دهوکه او نۀ خوری نو ضروری ده چه دهوکه او نۀ خوری[1].

عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ قَالَ إِنِّي لَأَعْقِلُ مَجَّةً مَجَّهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ دَلْوٍ فِي دَارِنَا قَالَ مَحْمُودٌ فَحَدَّثَنِي عِتْبَانُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ بَصَرِي قَدْ سَاءَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ إِلَى قَوْلِهِ فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ وَحَبَسْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَشِيشَةٍ صَنَعْنَاهَا لَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ مِنْ زِيَادَةِ يُونُسَ وَمَعْمَرٍ.

محمود بن ربیع ویلی دی. ما ته یاد دی چه یو غرغرے چه رسول الله ﷺ زمونږ د محلے د بالتی نه کړے وو. او محمود وائی چه روایت کړے دے ما ته عتبان چه ویلی دی هغوی چه ما عرض اوکړو رسول الله ﷺ ته چه خما نظر کم شوے دے. او بیان ئے کړو حدیث تر دے پورے چه عتبان اووے. چه دوه رکعته اوکړه هغه زمونږ سره. او پاتے کړو مونږ هغه لره د یوے غلے دپاره چه هغے ته جشیشه ویلے شی. چه هغه مونږ د هغۀ دپاره پخه کړے وه. او دد ے نه پس ئے ذکر نۀ دے کړے لکه چه یونس او معمر ذکر کړے دے[2].

---

[1] یعنی دا مۀ ګڼړه چه دوه رکعته مونځ دے. بلکه دا د اسلام د شروع خبره ده. چه د هغے نه پس نور احکام الٰهی ډیر نازل شوی دی.

[2] جشیشه دے ته وائی چه د غنمو باریک اوړۀ واخلی او په هغے کښ غوښه یا کهجوره واچوی او پخه ئے کړی. او د بخاری رحمه الله په روایت کښ ذکر دی چه محمود اووے. چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم خما په مخ کښ غرغرے اوکړے. او په دے روایت کښ جواز

بَاب جَوَازِ الْجَمَاعَةِ فِي النَّافِلَةِ وَالصَّلَاةِ عَلَى حَصِيرٍ وَخُمْرَةٍ وَثَوْبٍ وَغَيْرِهَا مِنَ الطَّاهِرَاتِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ جَدَّتَهُ مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَالَ قُومُوا فَأُصَلِّيَ لَكُمْ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَقُمْتُ إِلَى حَصِيرٍ لَنَا قَدْ اسْوَدَّ مِنْ طُولِ مَا لُبِسَ فَنَضَحْتُهُ بِمَاءٍ فَقَامَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَفَفْتُ أَنَا وَالْيَتِيمُ وَرَاءَهُ وَالْعَجُوزُ مِنْ وَرَائِنَا فَصَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا فَرُبَّمَا تَحْضُرُ الصَّلَاةُ وَهُوَ فِي بَيْتِنَا فَيَأْمُرُ بِالْبِسَاطِ الَّذِي تَحْتَهُ فَيُكْنَسُ ثُمَّ يُنْضَحُ ثُمَّ

باب : په نفل مونځ کښې د جمعے د جائز کیدو. او په پوزکي، بوجے ، په کپړا او نورو پاکو څیزونو د مونځ د کولو بیان

انس بن مالک ؓ ویلی دی چه د هغوی نیا چه د هغے نوم مُلیکه وو. رسول الله ﷺ لره د یو خوراک دپاره راوغوښتو . چه هغوی پوخ کړے وو. بیا پیغمبر ﷺ اوخوړو او اوئے فرمایل چه اودریږه . زۀ ستا د خیر او برکت دپاره مونځ کوم . انس ؓ وائی چه ما یو پوزکے راواخستو اودریدم. چه هغه د ډیرو خورولو د وجے نه تور شوے وو (یعنی استعمال شوے وو) او په هغے باندے ما اوبو لره اونوستلے. او پیغمبر ﷺ په هغے باندے اودریدو. او ما او یو یتیم د هغۀ نه روستو صف جوړ کړو. او بوډئ هم زمونږ نه روستو اودریده. بیا هغه مونځ ورکړو دوه رکعته او سلام ئے اوګرځوو[1].

انس بن مالک ؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ په اخلاقو کښې د ټولو نه ښۀ وو او کله چه به هغۀ ته د مانځۀ وخت راغے او هغه به زمونږ په کور کښې وو. نو حکم به ئے اوکړو خما د کیناستو د درۍ چه د هغۀ ﷺ د لاندے به وه چه هغے لره د اوځنډلے شی او بیا د پر اوبۀ

راواوتو د ملاطفت او د مزاج د هلکانو سره د هغو دزړۀ خوشحالولو لره ځکه چه د بچو زړۀ په داسے خبرو زیات خوشحالیږی. او هغه اراده اوکړه چه د دے خوشحالئ په سبب سره زمونږ د صحبت فیض یاد ساتی هم دارنګے دغه شان اوشوه.

[1] د دے حدیث نه ثابته شوه د دعوت قبلول اګر که ولیمه نۀ وی. او په جمع سره نفل کول. او جائز شو برکت اخستل په خپل کور کښې دنیکانو د مانځۀ سره. او کیدے شی چه هغه ته د هغوی تعلیم هم منظور وی علی الخصوص ښځے ته. چه ښځے په جماعت کښې د هغۀ هیئت مانځۀ لره په ښۀ طریقه نۀ شی لیدلے. د دے وجے نه چه روستو اودریدړی. او ثابت شو مونځ کول په پوزکو وغیره باندے چه هغه څیز پاک وی اګر که استعمال شوے وی. او دا هم معلومه شوه چه دا مام نه سوا کله چه دوه سړی وی نو د امام نه روستو به صف جوړوی او ښځه په روستو اودریږی اګر که یواځے وی. او په پوزکی اوبۀ غورخول د هغے د نرمیدو دپاره وو او قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی چه د پلیتئ د شک په سبب سره ئے پر اوبۀ او غورځولے مګر صحیح هغه د ے کوم چه مونږ مخکښې ویلی دی.

يَؤُمُّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَقُوْمُ خَلْفَهُ فَيُصَلِّي بِنَا وَكَانَ بِسَاطُهُمْ مِنْ جَرِيْدِ النَّخْلِ

اونولی بیا به رسول الله ﷺ امامت او فرمایلو او مونږ خلق به د هغهٔ نه روستو ولاړ وو. او هغهٔ به زمونږ سره مونځ کولو او د هغهٔ د کیناستو ځائے د کهجورو د پاڼو وو[1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا وَمَا هُوَ إِلَّا أَنَا وَأُمِّي وَأُمُّ حَرَامٍ خَالَتِي فَقَالَ قُوْمُوْا فَلِأُصَلِّيَ بِكُمْ فِي غَيْرِ وَقْتِ صَلَاةٍ فَصَلَّى بِنَا فَقَالَ رَجُلٌ لِثَابِتٍ أَيْنَ جَعَلَ أَنَسًا مِنْهُ قَالَ جَعَلَهُ عَلَى يَمِيْنِهِ ثُمَّ دَعَا لَنَا أَهْلَ الْبَيْتِ بِكُلِّ خَيْرٍ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَقَالَتْ أُمِّي يَا رَسُوْلَ اللهِ خُوَيْدِمُكَ ادْعُ اللهَ لَهُ قَالَ فَدَعَا لِي بِكُلِّ خَيْرٍ وَكَانَ فِي آخِرِ مَا دَعَا لِي بِهِ أَنْ قَالَ اللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَبَارِكْ لَهُ فِيْهِ

انس ؓ وائی دی چه رسول الله ﷺ زمونږ کور ته تشریف راؤوړو او زهٔ په کور کښې وم او ځما مور او ترور هم وه. او هغهٔ ﷺ اوفرمایل اودریږئ زهٔ ستاسو دپاره مونځ کوم. او دغه وخت د څهٔ فرض مونځ وخت نهٔ وو. بیا هغهٔ مونځ اوکړو او یو سړی د ثابت ؓ نه تپوس اوکړو چه حضرت انس ؓ لره کوم ځائے اېدر وو. هغوی اووے خپل ښی طرفته. بیائے زمونږ د ټولو کور والو دپاره د خیر دُعا اوکړه د ټولو غوره والو خواه کهٔ ددنیا وی یا د آخرت. بیا ځما مور عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! (ﷺ) دا ستا وړوکے خادم (یعنی انس ؓ) دے. د دهٔ دپاره تاسو دُعا اوکړئ. بیا هغه ځما دپاره هر خیز اوغوښتو. او د دُعا په آخر کښې ئے عرض اوکړو. یا الله ددهٔ مال زیات کړے. اولاد ئے زیات کړے. او بیا په هغے کښې برکت واچوے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِ وَبِأُمِّهِ أَوْ خَالَتِهِ قَالَ فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِيْنِهِ وَأَقَامَ الْمَرْأَةَ خَلْفَنَا

انس ؓ وائی دی چه رسول الله ﷺ ما ته او ځما مور یا ترور ته مونځ ورکړو (یعنی د امامت) او زهٔ ئے خپل ښی طرفته اودرولم. او ښځے ځما نه شاته

عَنْ مَيْمُوْنَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَأَنَا حِذَاءَهُ وَرُبَّمَا أَصَابَنِي ثَوْبُهُ إِذَا سَجَدَ وَكَانَ يُصَلِّي عَلَى خُمْرَةٍ

اُمُّ المؤمنین میمونه ؓ بی بی د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ مونځ کولو او زهٔ د هغهٔ په برابر حاضره وم. او کله به د هغهٔ کپره ځما سره لګیدله کله چه به ئے سجده کوله. او هغهٔ ؓ به په پوزکی باندے مونځ کولو.

عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى

د ابوسعید ؓ نه روایت دے. چه زهٔ د حضرت ﷺ په خدمت کښې

[1] ددے نه د انبیاؤ بے تکلفی ثابته شوه.

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَهُ يُصَلِّي عَلَى حَصِيرٍ يَسْجُدُ عَلَيْهِ

حاضر شوم او هغهٔ ﷺ لره م اولیدو چه په پُوزکی باندے ئے مونځ کولو. او په هغے باندے ئے سجده کوله

بَاب فَضْلِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ فِي جَمَاعَةٍ وَفَضْلِ انْتِظَارِ الصَّلَاةِ وَكَثْرَةِ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ وَفَضْلِ الْمَشْيِ إِلَيْهَا

باب: فرض مونځ په جمع کول او د مونځ انتظار کول او د جماعتونو ته د ډیرو تلو راتلو فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ بِضْعًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً وَذَلِكَ أَنَّ أَحَدَهُمْ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ لَا يَنْهَزُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ لَا يُرِيدُ إِلَّا الصَّلَاةَ فَلَمْ يَخْطُ خَطْوَةً إِلَّا رُفِعَ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ حَتَّى يَدْخُلَ الْمَسْجِدَ فَإِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَ فِي الصَّلَاةِ مَا كَانَتْ الصَّلَاةُ هِيَ تَحْبِسُهُ وَالْمَلَائِكَةُ يُصَلُّونَ عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مَجْلِسِهِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ يَقُولُونَ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. چه د بنده مونځ د جمع سره د هغهٔ د کور او بازار د مانځهٔ نه په شلو باندے څو درجے غوره دے. او د هغے سبب دادے چه بنده کله اودس اوکړو او په ښهٔ شان ئے اوکړو. او بیا جماعت ته راغے او نهٔ وی اوچت کړے دهٔ لره مګر مونځ نو یو قدم نهٔ اږدی هغه مګر الله تعالی د هغے په بدله کښ یوه درجه ئے اوچتوی. او یو ګناه ئے کموی. تر د داخلیدو پورے. هغهٔ چه بیا کله جماعت ته راغے نو داسے شوه چه لکه په مانځهٔ کښ دے. د کومے پورے چه مونځ ده لره (په جماعت کښ) حصار کړے دے. او فرښتے د هغهٔ دپاره د خیر دُعا ګانے کوی. د کومے پورے چه هغه په خپل ځائے کښ دے. کوم ځائے چه ئے مونځ ادا کړے دے. او فرښتے وائی چه یا الله ته په دهٔ باندے رحم اوکړه. یا الله دهٔ لره اوبخه. یا الله ته ددهٔ توبه قبوله کړه د کومے پورے چه ضرر ئے نهٔ وی رسولے په دے کښ د هغے پورے چه بے اودسه شوے نهٔ وی په دے کښ (یعنی د هغے پورے فرښتے هم دغه وینا کوی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تُصَلِّي عَلَى

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه فرښتے په تاسو کښ دهریو دپاره د خیر دُعاګانے کوی د کومے پورے چه هغه د خپل مونځ

أَحَدُكُمْ مَا دَامَ فِي مَجْلِسِهِ تَقُولُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ مَا لَمْ يُحْدِثْ وَأَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ

په ځائے ناست وی. یا الله اوبخے دهٔ لره. یا الله په دهٔ باندے رحم اوکړه د کومے پورے چه بے اودسه شوے نهٔ وی او په تاسو کښې هر یو په مانځهٔ کښې دے د کومے پورے چه مانځهٔ دهٔ لره حصار کړے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزَالُ الْعَبْدُ فِي صَلَاةٍ مَا كَانَ فِي مُصَلَّاهُ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ وَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ حَتّٰى يَنْصَرِفَ أَوْ يُحْدِثَ قُلْتُ مَا يُحْدِثُ قَالَ يَفْسُو أَوْ يَضْرِطُ

ابوهریرهؓ وئیلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه د کومے پورے بنده د مانځهٔ په انتظار کښې په خپل ځائے باندے ناست وی. د هغے پورے هغه په مانځهٔ کښې دے. او فرښتے د هغهٔ دپاره وینا کوی چه یا اللهؓ دهٔ لره اوبخے. اویا اللهؓ په دهٔ باندے رحم اوکړے ترد ے پورے چه هغه لاړ شی یا بے اودسی اوکړی. راوی وائی چه ما تپوس اوکړو حدث څهٔ شے دے. نو هغهٔ اووے چه پُسکی یا تیز واچوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا دَامَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ لَا يَمْنَعُهُ أَنْ يَنْقَلِبَ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا الصَّلَاةُ

ابوهریرهؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. بنده په مانځهٔ کښې دے د کومے پورې چه مانځهٔ هغهٔ لره حصار کړے دے. نهٔ منع کوی هغهٔ لره د کور تلو نه مگر مونځ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَحَدُكُمْ مَا قَعَدَ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ فِي صَلَاةٍ مَا لَمْ يُحْدِثْ تَدْعُو لَهُ الْمَلَائِكَةُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ

ابوهریرهؓ روایت کوی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. یو ستاسو نه په مانځهٔ کښې دے هغه څوک د کومے پورے چه د مانځهٔ په انتظار کښې دے د کومے پورے چه د هغهٔ اودس مات شوے نهٔ وی. فرښتے د هغهٔ دپاره دُعا کوی. یا الله دهٔ لره اوبخے یا الله په دهٔ رحم اوکړے.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَعْظَمَ النَّاسِ أَجْرًا فِي الصَّلَاةِ أَبْعَدُهُمْ إِلَيْهَا مَمْشًى فَأَبْعَدُهُمْ وَالَّذِي يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الَّذِي يُصَلِّيهَا ثُمَّ يَنَامُ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ فِي جَمَاعَةٍ

ابو موسیٰ وئیلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی د چا کور چه د جماعت نه زیات لرے دے. د هغهٔ ثواب هم دومره زیات دے. او څوک چه د مانځهٔ په انتظار کښې دے چه د امام سره به مونځ ادا کړم د هغهٔ ثواب هم زیات دے د هغهٔ سړی نه چه هغه مونځ اوکړی او اودهٔ شی. او د ابوکریب په روایت کښې دا لفظ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ فِي جَمَاعَةٍ دے. او مطلب د دواړو یو شان دے.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَجُلٌ لَا أَعْلَمُ

ابی بن کعبؓ وئیلی دی چه یو سړے وو. چه د هغهٔ د کور نه زیات د

رَجُلًا أَبْعَدَ مِنَ الْمَسْجِدِ مِنْهُ وَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ صَلَاةٌ قَالَ فَقِيلَ لَهُ أَوْ قُلْتُ لَهُ لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا تَرْكَبُهُ فِي الظَّلْمَاءِ وَفِي الرَّمْضَاءِ قَالَ مَا يَسُرُّنِي أَنَّ مَنْزِلِي إِلَى جَنْبِ الْمَسْجِدِ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ يُكْتَبَ لِي مَمْشَايَ إِلَى الْمَسْجِدِ وَرُجُوعِي إِذَا رَجَعْتُ إِلَى أَهْلِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَمَعَ اللهُ لَكَ ذٰلِكَ كُلَّهُ

چا کور د جماعت نۀ وو. او چرته به یوه جمع د هغۀ نه نۀ فوت کیده. نو هغۀ ته او ویلے شو یا ما ورته او وے چه تۀ کۀ چرے یو خر واخلے چه په هغے سوریږے او راځے په تیاره او په نمر کښې نو ښۀ به وی. هغۀ او وے زۀ دا نۀ غواړم چه ځما کور د د جماعت په خواه کښې وی. ځکه زۀ دا غواړم چه ځما قدمونه د د جماعت په طرف لیکلے شی. او ځما واپسی هم کله چه زۀ کورته واپس شم. پس رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه الله دا ټولو ثواب ستاسو دپاره یو ځائے کړے دے.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بَيْتُهُ أَقْصَى بَيْتٍ فِي الْمَدِينَةِ فَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ الصَّلَاةُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَتَوَجَّعْنَا لَهُ فَقُلْتُ لَهُ يَا فُلَانُ لَوْ أَنَّكَ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا يَقِيكَ مِنَ الرَّمْضَاءِ وَيَقِيكَ مِنْ هَوَامِّ الْأَرْضِ قَالَ أَمَ وَاللهِ مَا أُحِبُّ أَنَّ بَيْتِي مُطَنَّبٌ بِبَيْتِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَحَمَلْتُ بِهِ حِمْلًا حَتَّى أَتَيْتُ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ فَدَعَاهُ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ وَذَكَرَ لَهُ أَنَّهُ يَرْجُو فِي أَثَرِهِ الْأَجْرَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَكَ مَا احْتَسَبْتَ

ابی بن کعب رضی الله عنه ویلی دی چه د انصارو نه یو سړے وو چه د هغۀ کور د مدینے په ټولو کورونو کښې د جماعت نه لرے وو. او د هغۀ نه به د رسول الله ﷺ سره یوه جمع نۀ فوت کیده. نو زمونږ خلقو په هغۀ باندے ترس راغے. او ما هغۀ ته اووے. چه کاش تۀ یو خر واخلے چه تا د ګرمئ نه او د لارے د حشراتو مشراتو نه بچ کوی. هغوی اووے واؤره ! زۀ نۀ غواړم چه ځما کور د محمد ﷺ د کور سره متصل وی. او په ما د هغۀ دا خبره ډیره درنه او سخته تیره شوه. او زۀ د نبی ﷺ خواله راغلم او هغۀ ته م خبر ورکړو. حضرت ﷺ هغۀ لره رااوغوښتو. هغوی حضرت محمد ﷺ ته هم دغه شان اووے. کوم چه ئے ماته ویلی وو. او ذکر ئے اوکړو چه زۀ د خپلو قدمونو اجر غواړم. نبی ﷺ اوفرمایل بیشکه تا لره اجر دے چه د هغے امید لرونکے ئے.

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَتْ دِيَارُنَا نَائِيَةً عَنِ الْمَسْجِدِ فَأَرَدْنَا أَنْ نَبِيعَ بُيُوتَنَا فَنَقْتَرِبَ مِنَ الْمَسْجِدِ

ابوالزبیر د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه اوریدلی دی چه هغوی ویلی دی چه زمونږ خلقو کور د جماعت نه لرے وو. نو مونږ دا غوښتله چه خرخ ئے کړو. او جماعت ته نژدے راشو. نو رسول الله ﷺ مونږ لره منع

فَنَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ لَكُمْ بِكُلِّ خَطْوَةٍ دَرَجَةً

کړو. او اوئې فرمایل چه ستاسو دپاره په هر قدم باندې یوه درجه ده.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ فَأَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَنْتَقِلُوا إِلَى قُرْبِ الْمَسْجِدِ فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمْ إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ أَرَدْنَا ذَلِكَ فَقَالَ يَا بَنِي سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ

جابر بن عبد اللهؓ وېلي دي. چه څۀ ځایو نه د جماعت نه چا پېره خالي شول نو د بنوسلمه قبیلې والو دا غوښتله چه د جماعت خواله خپلې کډې راوړي. او دا خبر رسول الله ﷺ ته اورسیدو. نو هغۀ اوفرمایل . ستاسو خبر ماته رارسیدلې دې. چه تاسو غواړئ چه جماعت ته نزدې راشئ. هغوی اووې آو اې د الله رسولهﷺ مونږ خو دا غواړو. بیا حضرتﷺ اوفرمایل اې بني سلمو! تاسو په خپلو کورونو کښې اوسیږئ ستاسو قدمونه لیکلې شي (یعني دې دپاره چه د هغې ثواب درته میلاؤ شي)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَتَحَوَّلُوا إِلَى قُرْبِ الْمَسْجِدِ قَالَ وَالْبِقَاعُ خَالِيَةٌ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا بَنِي سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ فَقَالُوا مَا كَانَ يَسُرُّنَا أَنَّا كُنَّا تَحَوَّلْنَا

جابر بن عبد اللهؓ وېلي دي چه بنو سلمه غوښتله چه جماعت ته نزدې راشو او څۀ ځایونه خالي وې. نو دا خبر نبی کریم ﷺ ته اورسیدو . هغۀ اوفرمایل اې بني سلمو! په خپلو کورونو کښې اوسیږئ ستاسو قدمونه لیکلې کیږي. نو هغوی اووې چه مونږ په دې فرمان سره داسې خوشحاله شو چه د هغه ځائې په کډه راوړو دومره خوشحاله نۀ وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَطَهَّرَ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ مَشَى إِلَى بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ لِيَقْضِيَ فَرِيضَةً مِنْ فَرَائِضِ اللهِ كَانَتْ خَطْوَتَاهُ إِحْدَاهُمَا تَحُطُّ خَطِيئَةً وَالْأُخْرَى تَرْفَعُ دَرَجَةً

ابوهریرهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ فرمایلي دي. څوک چه په خپل کور کښې طهارت اوکړي . بیا د الله د کورونو نه یو کورته لاړ شي. چه د الله د فرضو نه څۀ فرضو لره ادا کړي. نو دده قدمونه به داسې وي. چه د یو سره به بدئ ختمیږي او د بل سره به درجې اوچتیږي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَفِي حَدِيثِ بَكْرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ

ابوهریرهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ فرمایلي وو. عجیبه ده کۀ چرې تاسو اوګورئ چه د چا په دروازه یو نهر وي او هغه په هغې کښې پنځۀ خله لامبي. نو ولې د

مرا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالُوا لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالَ فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا

هغۀ په بدن به څۀ خیرے پاتے شي. صحابو عرض اوکړو چه نه. حضرت اوفرمایل. دغه مثال دے د پنځو مونځونو. چه الله پاک د دے په برکت سره ګناهونه صفا کوی.

عَنْ جَابِرٍ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ كَمَثَلِ نَهْرٍ جَارٍ غَمْرٍ عَلَى بَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ قَالَ قَالَ الْحَسَنُ وَمَا يُبْقِي ذَلِكَ مِنَ الدَّرَنِ

جابر بن عبد الله ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه د پنځوو مونځونو مثال د یو ژور نهر په شان دے. چه هغه د چا په دروازه باندے وی. او هغه هره ورځ په هغے کښې پنځۀ ځله لامبی. حسن ویلی دی چه په هغۀ باندے به څۀ خیرے باقی پاتے نۀ شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ أَعَدَّ اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ

ابوهریره ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه کوم سړے سحر او ماښام جماعت ته ځی. الله تعالی د هغۀ میلمستیا تیاره وی په هر سحر او ماښام کښې (یعنی هر سحر او ماښام دے د الله میلمه وی)

بَاب فَضْلِ الْجُلُوسِ فِي مُصَلَّاهُ بَعْدَ الصُّبْحِ وَفَضْلِ الْمَسَاجِدِ

باب: د سحر نه پس د خپل مانځۀ په ځائے د ناستے او د جماعتونو د فضیلت بیان

عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ قُلْتُ لِجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَكُنْتَ تُجَالِسُ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ نَعَمْ كَثِيرًا كَانَ لَا يَقُومُ مِنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ الصُّبْحَ أَوِ الْغَدَاةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ قَامَ وَكَانُوا يَتَحَدَّثُونَ فَيَأْخُذُونَ فِي أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ فَيَضْحَكُونَ وَيَتَبَسَّمُ

سماک بن حرب ویلی دی چه ما جابر بن سمره ته اووے. ولے تۀ د رسول الله ﷺ سره کیناستلے ئے؟ هغوی اووے. چه ډیر. بیائے اووے چه د هغۀ عادت مبارک دا وو. چه د خپل مانځۀ په ځائے به ناست وو د سحر نه پس د نمر د راختو پوری. بیا چه به کله نمر اوختو. نو پاسیدو اودریدو به او خلقو به خبرے کولے د کفر د زمانے او خندل به ئے. او هغه به مسکے وو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ جَلَسَ فِي مُصَلَّاهُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَسَنًا

جابر بن سمره ویلی دی چه نبی کریم چه به کله د سحر مونځ اوکړو نو په خپل ځائے باندے به ناست وو. دکومے پورے چه به نمر ښۀ راختلے نۀ وو.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ مِهْرَانَ مَوْلَى أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا

عبد الرّحمٰن بن مهران چه ازاد کړے غلام وو د ابوهریره ؓ هغهٔ د ابوهریره ؓ نه روایت کړے کوی چه رسول الله ﷺ فرمایلی. په ښهرونو کښې خوږ ځائے د الله په نز جماعتونه دی. او د ټولو نه بد ځائے د الله په نز بازار دے[1].

بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ

باب: د امامت حقدار څوک دے؟

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَحَدُهُمْ وَأَحَقُّهُمْ بِالْإِمَامَةِ أَقْرَؤُهُمْ

ابوسعید خدری ؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی کله چه درے سړی وی نو یو د هغوی نه د امام شی. او د امامت زیات حقدار هغه دے چه هغه قرآن ښهٔ لوستے شی.

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ فَإِنْ كَانُوا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ سِلْمًا وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِي سُلْطَانِهِ وَلَا يَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ عَلَى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ قَالَ الْأَشَجُّ فِي رِوَايَتِهِ مَكَانَ سِلْمًا سِنًّا

ابو مسعود انصاری ؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه د قوم امامت به هغه څوک کوی. چه هغه په قرآن باندے زیات پوهه وی. کهٔ چرے په قرآن کښې ټول برابر وی نو بیا هغه څوک چه هغه په سنتو زیات عالم وی. کهٔ په سنتو کښې ټول برابر وی نو بیا چا چه مخکښې هجرت کړے وی. کهٔ په هجرت کښې ټول برابر وی. نو بیا چا چه اسلام مخکښې راوړے وی او د چا د حکومت ځائے ته چه لاړ شی، د هغهٔ امامت مهٔ کوی، او نهٔ د هغهٔ په کور کښې او مهٔ د هغهٔ په تخت باندے کیښنی، مګر د هغهٔ په حکم سره. اشج د اسلام په ځائے عمر لره ذکر کړے دے. یعنی د چا چه عمر زیات وی.

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ يَقُولُ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ وَأَقْدَمُهُمْ قِرَاءَةً فَإِنْ كَانَتْ قِرَاءَتُهُمْ سَوَاءً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً

ابو مسعود ؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ مونږ ته او فرمایل. چه د خلقو امامت به هغه څوک کوی چه هغه په قرآن پاک باندے زیات پوهه وی. او ښهٔ قرآن لوستے شی. او کهٔ چرے په قراءت کښې ټول برابر وی نو هغه کښې چا چه مخکښې هجرت کړے وی. او کهٔ په هجرت

[1] په بازارونو کښې د شیطان جهنډا ولاړه وی. کنځل ویل یو بل ته کیږی. او د فسق وفجور زور وی. په خلاف د هغے په جماعتونو کښې د الله ذکر، د مونځ او روژے، د زهد وعبادت او د خدائے د یرے شهرت وی.

فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَكْبَرُهُمْ سِنًّا وَلَا تَؤُمَّنَّ الرَّجُلَ فِي أَهْلِهِ وَلَا فِي سُلْطَانِهِ وَلَا تَجْلِسْ عَلَى تَكْرِمَتِهِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَكَ أَوْ بِإِذْنِهِ

کښې تول برابر وي نو هغه څوک چه هغه په عمر کښې مشر وي. او د چا امامت مۀ کوه د هغۀ په کور کښې او نۀ د هغۀ د حکومت په ځائې کښې او مۀ کینه د هغۀ په تخت د هغۀ په کور کښې د کومې پورې چه هغۀ تاته اجازت نۀ وي درکړې. یائې اوفرمایل چه د هغۀ په اجازت سره.

عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ شَبَبَةٌ مُتَقَارِبُونَ فَأَقَمْنَا عِنْدَهُ عِشْرِينَ لَيْلَةً وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِيمًا رَقِيقًا فَظَنَّ أَنَّا قَدِ اشْتَقْنَا أَهْلَنَا فَسَأَلَنَا عَنْ مَنْ تَرَكْنَا مِنْ أَهْلِنَا فَأَخْبَرْنَاهُ فَقَالَ ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ فَأَقِيمُوا فِيهِمْ وَعَلِّمُوهُمْ وَمُرُوهُمْ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ

مالک بن حویرث ؓ ویلې دي چه مونږ رسول الله ﷺ له راغلو. او مونږ ځوانان ځوانان همزولي وو. او شل ورځې د هغۀ په خدمت کښې پاتې شو. او رسول الله زیات مهربان او نرم وو. هغۀ معلومه کړه چه مونږ خلقو ته د وطن شوق راغې. نو هغۀ تپوس اوکړو چه کومو کومو خلقو لره تاسو په خپل وطن کښې پریخودي او راغلي یئ. د خپلو عزیزانو رشته دارانو نه او مونږ هغۀ ته خبر ورکړو. نو هغۀ اوفرمایل تاسو خپل وطن ته واپس لاړ شئ. او هلته اوسیږئ او خلقو ته د اسلام خبرې ښایئ. ایزده کوئ. بیا چه کله د مانځۀ وخت راشي نو یو سړې اذان کوئ او کوم چه پتاسو کښې مشر وي هغه دې امامت کوي[1].

عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَصَاحِبٌ لِي فَلَمَّا أَرَدْنَا الْإِقْفَالَ مِنْ عِنْدِهِ قَالَ لَنَا إِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَأَذِّنَا ثُمَّ أَقِيمَا وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا

مالک بن حویرث ؓ ویلې دي چه زۀ او خما یو ملګرې رسول الله ﷺ له راغلو. بیا چه مونږ کله د هغۀ نه واپس کیدل غوښتل نو هغۀ اوفرمایل. چه کله د مانځۀ وخت راشي. نو اذان کوئ او اقامت کوئ. او په تاسو کښې چه کوم مشر وي هغه د امامت کوي.

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْقُنُوتِ فِي جَمِيعِ الصَّلَاةِ إِذَا نَزَلَتْ بِالْمُسْلِمِينَ نَازِلَةٌ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ وَاسْتِحْبَابِهِ فِي الصُّبْحِ دَائِمًا وَبَيَانِ أَنَّ

باب: کله چه په مسلمانانو څۀ بلاء او مصیبت نازل شي نو مونځ کونکو لره په اوچت آواز قنوت ویل او په الله سره پناهي غوښتل مستحب دي او د دې محل او ځائې د

---

[1] د دې حدیث نه د اذان او د امامت او د جماعت حکم اوشو. چونکه هغه خلق په هجرت او علم کښې برابر وو. لهذا حضرت ﷺ هغوی ته هم حکم ورکړو چه کوم په عمر کښې زیات وي هغه د امامت کوي.

مَحَلّه بعد رفع الرَّأسِ مِنَ الرُّكُوعِ فِي الرَّكْعَةِ الأَخِيرَةِ وَاسْتِحْبَابِ الْجَهرِبِه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ حِينَ يَفْرُغُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ مِنَ الْقِرَاءَةِ وَيُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ رَأْسَهُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ اَللّٰهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ كَسِنِي يُوسُفَ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ لِحْيَانَ وَرِعْلًا وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ عَصَتِ اللهَ وَرَسُولَهُ ثُمَّ بَلَغَنَا أَنَّهُ تَرَكَ ذٰلِكَ لَمَّا أُنْزِلَ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ

آخری رکعت د رکوع نه د سر اوچتولو نه پس د ے. او د سحر په مانځهٔ کښ په قنوت همیشه والے مستحب د ے

د ابوهریرهؓ نه روایت د ے چه رسول اللهﷺ چه به کله د سحر د مانځهٔ د قراءت نه فارغ شو نو د سر مبارک د رکوع نه د اوچتولو سره به ئے (یعنی په دویم رکعت کښ) ویل د سَمِعَ اللهُ نه د اٰخره پورے. یعنی واؤریدو الله چا چه د هغهٔ حمد اوکړو. اے زمونږه ربه ! ټول تعریف تالره د ے.بیا به ئے په ولاړے ولاړے ویل یا الله ! خلاصے ورکړے ولید بن ولیدؓ لره او سلمه بن هشامؓ او عیاش بن ابی ربیعهؓ لره (دا ټول مسلمانان د کفارو په قبضه کښ وو) او خلاصے ورکړے په مؤمنانو کښ ضعیفو خلقو لره (یعنی کوم چه د مکے والو په لاس کښ پاتے راغلی وو) یا الله (قبیله) مضر په خپله سختئ سره راګیر کړے. او په هغوی باندے د یوسف علیه السلام د زمانے په شان قحط روالے (لکه چه په مصر کښ اووه کاله واقع شوے وو) یا الله ! لعنت اوکړے په لحیان او رعل او ذکوان او عُصیّه باندے (چه هغوی د الله اود هغهٔ د رسولؐ نافرمانی اوکړه) بیا مونږ ته خبر رااورسیدو چه هغه دا خیرے موقوف کړے کله چه دااٰیت نازل شو: لَيْسَ لَكَ الاٰية یعنی اے پیغمبره! تاته په د ے کارکښ څهٔ اختیارنشته.کهٔ اللهؐ غواړی نود هغوی توبه به قبوله کړی.اوکهٔ نهٔ غواړی نو عذاب به ئے کړی.ولے چه

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ بَعْدَ الرَّكْعَةِ فِي صَلَاةٍ شَهْرًا إِذَا قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ يَقُولُ فِي قُنُوتِهِ اللَّهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ اللَّهُمَّ نَجِّ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ اللَّهُمَّ نَجِّ عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ اللَّهُمَّ نَجِّ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ ثُمَّ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكَ الدُّعَاءَ بَعْدُ فَقُلْتُ أُرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ تَرَكَ الدُّعَاءَ لَهُمْ قَالَ فَقِيلَ وَمَا تُرَاهُمْ قَدْ قَدِمُوا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ وَاللَّهِ لَأُقَرِّبَنَّ بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يَقْنُتُ فِي الظُّهْرِ وَالْعِشَاءِ الْآخِرَةِ وَصَلَاةِ الصُّبْحِ وَيَدْعُو لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَلْعَنُ الْكُفَّارَ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الَّذِينَ قَتَلُوا

هغه ظالمان دی[1].

د ابوسلمهؓ نه روایت دے چه ابوهریرهؓ هغوئ ته بیان کړے دے. چه نبی کریم ﷺ د رکوع نه پس د یوے میاشتے پورے قنوت لوستلو. کله چه به ئے سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ اووے. نو په خپل قنوت کښں به ئے دا ویلو. چه یاالله پریږدے ولید بن ولید لره. یاالله پریږدے سلمه بن هشام لره. یا اللهؐ پریږدے عیاش بن ابی ربیعه لره. یا الله پریږدے کمزور مؤمنانو لره. یا الله (قبیله) مُضر په خپله سختئ سره راګیر کړے. یا الله په هغوی باندے د یوسفؑ د زمانے داسے قحط راولے. ابوهریرهؓ ویلی دی. بیا ما اولیدو رسول الله ﷺ لره چه دده نه پس هغهٔ دُعا پریخوده. نو ما اووے. چه زهٔ رسول الله ﷺ لره وینمه چه هغهٔ دُعا پریخودے ده. نو خلقو اووے چه ګورے نهٔ چه د چا دپاره رسول الله ﷺ دُعا کوله هغه خو راغے (یعنی دکافرو د ټولی نه جدا شو راغے)

ابوهریرهؓ به ویلو چه قسم په خدائے زهٔ به ستاسو سره ادا کړم مانځهٔ لره کوم چه د رسول الله ﷺ مانځهٔ ته نزدے نزدے وی. بیا ابوهریرهؓ په ماسپخین او ماسختن او سحر کښں به قنوت لوستلو. او د مؤمنانو دپاره به ئے دُعا کوله. او په کافرو باندے به ئے لعنت لیږلو.

انس بن مالکؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ هغه خلقو ته خیرے کړے وے. چا چه د بیر معونه خلقو لره قتل کړی وو. د دیرشو ورځو پوری

[1] نووی رحمه الله ویلی دی چه دد ے حدیث نه د قنوت د همیش والی استحباب ثابت شو او د هغے د ویلو ځائے د اخری رکعت د رکوع نه پس معلوم شو او د جهر غوره والے هم ثابت شو. لکه چه د امام شافعیؒ مذهب دے. د امام شافعی مذهب دغسے دے چه د سحر په مانځهٔ کښں په قنوت باندے همیش والے مسنون دے باقی پاتے شو نور مونځونه نو په دے کښں درے قولونه دی صحیح او مشهور دادے. چه کله بلائے عام نازله شی. لکه ددین د دښمنانو غلبه یا قحط. هغه یا خو به په ټولو مونځونو کښں امام قنوت لولی او کهٔ نهٔ وی نو نهٔ او دویم قول دادے چه په څهٔ حالت کښں به هم نهٔ لولی. مګر د صحیح دغه رومبے قول دے او رفع یدین په دے کښں مستحب دی او د قنوت ختمیدو نه پس به په مخ باندے لاس نهٔ راکاږی او بعضو لاس رابنکودل هم مستحب ویلی دی. او په سینه لاسونو رابنکودو ته تولو مکروهه ویلی دی. او د دُعائے ماثوره نه چه ئے کومه دُعا زړهٔ غواړی اودلولی.

أَصْحَابَ بِئْرِ مَعُونَةَ ثَلَاثِينَ صَبَاحًا يَدْعُو عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَلِحْيَانَ وَعُصَيَّةَ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ قَالَ أَنَسٌ أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي الَّذِينَ قُتِلُوا بِبِئْرِ مَعُونَةَ قُرْآنًا قَرَأْنَاهُ حَتَّى نُسِخَ بَعْدُ أَنْ بَلِّغُوا قَوْمَنَا أَنْ قَدْ لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَرَضِينَا عَنْهُ

(یعنی د دیرشو ورځو پورې ئې خیرے کړے وے) بهٔ ئې خیرے کولے هغه رعل او ذکوان او لحیان او عُصیه ته چه هغوی د الله او د هغهٔ د رسول نافرمانی اوکړه . انس ویلی دی چه الله ددغه وژلو شوو شهیدانو په حال کښې د قران څهٔ حصّه رااولیږله کوم چه په بئرِ معونه کښې قتل شوی وو. مونږ هغه ایت لره ددغے قران په شان اولوستو بیا منسوخ شو. د أَنْ بَلِّغُوا نه د اخره پورے. یعنی زمونږ د طرفه زمونږ قوم ته زیرے اورسوه چه مونږ دخپل پروردګار سره میلاؤ شو. هغه هم راضی شو زمونږ نه او مونږ هم راضی شو د هغهٔ نه[1].

عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ هَلْ قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ قَالَ نَعَمْ بَعْدَ الرُّكُوعِ يَسِيرًا

محمدؒ ویلی دی چه ما انس ته اووے . ولے رسول الله ﷺ به د سحر په مانځهٔ کښې قنوت لوستل کولو؟ هغوی اووے آو. د رکوع نه پس لږ ساعت.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ يَدْعُو عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَيَقُولُ عُصَيَّةُ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

انس بن مالکؓ ویلی دی. چه رسول الله ﷺ به د سحر په مانځهٔ کښې د رکوع نه پس قنوت لوستلو. د رعل او ذکوان دپاره بهٔ ئې خیرے کولے او فرمایلی ئې وو چه عُصیّه د الله او د هغهٔ د رسولؐ نافرمانی اوکړه

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ يَدْعُو عَلَى بَنِي عُصَيَّةَ

انس بن مالکؓ یلی دی چه رسول الله ﷺ به د سحر په مانځهٔ کښې د رکوع نه پس د یوے میاشتے پورې قنوت لوستلو . هغهٔ به خیرے کولے د بنی عُصیه قبیله ته

عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ سَأَلْتُهُ عَنِ الْقُنُوتِ قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَ الرُّكُوعِ فَقَالَ قَبْلَ الرُّكُوعِ قَالَ قُلْتُ فَإِنَّ نَاسًا يَزْعُمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

د عاصم نه تپوس اوشو. چه قنوت د رکوع نه مخکښې دے کهٔ روستو؟ هغوی اووے. چه مخکښې. ما اووے. چه ځنے خلق دعوه کوی چه رسول الله ﷺ د رکوع نه پس قنوت لوستے دے. نو هغوی

---

[1] بیر معونه د بنی عامر او بنی سلیم په مینځ کښې د یوے زمکے نوم دے. هلته حضرت صلی الله علیه وسلم د قران اویا قاریانو لیږلی وو کافرانو هغوی لره قتل کړل. د هغے مفصل قصّه به انشاء الله په کتاب القرات کښې راشی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ فَقَالَ إِنَّمَا قَنَتَ رَسُولُ اللهِ ﷺ شَهْرًا يَدْعُو عَلَى أُنَاسٍ قَتَلُوا أُنَاسًا مِنْ أَصْحَابِهِ يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ.

اووے چه رسول الله ﷺ د یوے میاشتے پورے قنوت لوستلے دے. هغهٔ به هغه خلقو ته خیرے کولے چا چه د هغهٔ ځو صحابو لره قتل کړے وو. چه هغې ته به ئے قاریان ویل.

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ عَلَى سَرِيَّةٍ مَا وَجَدَ عَلَى السَّبْعِينَ الَّذِينَ أُصِيبُوا يَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ كَانُوا يُدْعَوْنَ الْقُرَّاءَ فَمَكَثَ شَهْرًا يَدْعُو عَلَى قَتَلَتِهِمْ

انس بن مالک ویلی دی. چه ما رسول الله ﷺ د یو وړوکی لښکر دپاره دومره قدرے غصّه چرته هم نهٔ وو لیدلے ځومره قدرے چه د دغه اویاؤ صحابه کرامو دپاره هغهٔ غصه شوے وو. کوم چه په بیر معونه کښې شهیدان شوی وو چه قاریان ئے ورته ویلو. او هغهٔ به د یوے میاشتے پورے برابر د هغوی قاتلانو ته خیر کولے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ ثُمَّ تَرَكَهُ

انس ویلی دی. چه رسول الله ﷺ د یوے میاشتے پورے قنوت لوستلو. او د عربو ځو کورونو ته به ئے خیرے کولے. بیائے پریخودے.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقْنُتُ فِي الصُّبْحِ وَالْمَغْرِبِ

براء بن عازب ویلی دی چه رسول الله ﷺ به په سحر او ماښام کښې قنوت لوستلو.

عَنْ خُفَافِ بْنِ إِيمَاءٍ الْغِفَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي صَلَاةٍ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ بَنِي لِحْيَانَ وَرِعْلًا وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ عَصَوُا اللهَ وَرَسُولَهُ غِفَارُ غَفَرَ اللهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ

خفاف بن ایماء غفّاری ویلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل په یو مانځهٔ کښې: یا الله لعنت اوکړے په بنی لحیان او ذکوان او عُصیّه. ولے چه هغوی د الله اود هغهٔ د رسول نافرمانی کړے ده. غفّار ته دِ الله بخنه اوکړی. اوسالم لره دِ دافتونو نه بچ کړی.

عَنِ الْحَارِثِ بْنِ خُفَافٍ أَنَّهُ قَالَ قَالَ خُفَافُ بْنُ إِيمَاءٍ رَكَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ غِفَارُ غَفَرَ اللهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللهَ وَرَسُولَهُ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ بَنِي لِحْيَانَ وَالْعَنْ رِعْلًا وَذَكْوَانَ ثُمَّ وَقَعَ سَاجِدًا قَالَ خُفَافٌ فَجُعِلَتْ لَعْنَةُ الْكَفَرَةِ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ

حارث وائی چه خفاف ویلی دی چه رسول الله ﷺ رکوع اوکړه. بیائے سر مبارک اوچت کړو. او اوئے ویل چه غفّار. الله دِ دوی اوبخی او سالم ، الله دِ بچ کړی. او عُصیّه، دِے د الله او د هغهٔ د رسول نافرمانی اوکړه. یا الله لعنت اوکړه په بنی لحیان باندے او په رعل باندے او په ذکوان باندے. بیا سجدے ته لاړه. خفاف ویلی دی چه دغے وجے نه په کفارو باندے په قنوت کښې لعنت کیدلے شی.

بَاب قَضَاءِ الصَّلَاةِ الْفَائِتَةِ وَ اسْتِحْبَابِ تَعْجِيلِ قَضَائِهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَارَ لَيْلَهُ حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرَى عَرَّسَ وَقَالَ لِبِلَالٍ اكْلَأْ لَنَا اللَّيْلَ فَصَلَّى بِلَالٌ مَا قُدِّرَ لَهُ وَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلَالٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ مُوَاجِهَ الْفَجْرِ فَغَلَبَتْ بِلَالًا عَيْنَاهُ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا بِلَالٌ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَهُمْ اسْتِيقَاظًا فَفَزِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيْ بِلَالُ فَقَالَ بِلَالٌ أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ بِنَفْسِكَ قَالَ اقْتَادُوا فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الصَّلَاةَ فَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللهَ قَالَ أَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي قَالَ يُونُسُ وَكَانَ ابْنُ شِهَابٍ يَقْرَؤُهَا لِلذِّكْرَى

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ عَرَّسْنَا مَعَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى

باب : د فوت شوی مونځ قضا راوړل او په قضا کښې د جلدئ کولو د مستحب کیدو بیان

ابوهریرهؓ وبلی دی چه رسول اللهﷺ چه کله د خیبر د غزاء نه واپس شو. یوه شپه روان وو تردے پورے چه کله هغهٔ له خوب راغے د شپے په آخره حصّه کښې نو کوز شو پریوتو او بلالؓ ته ئے اووے. چه تهٔ نن شپه زمونږ پهره کوه. نو بلال مونځ کولو څومره چه د هغهٔ په تقدیر کښې وو او رسول اللهﷺ او د هغهٔ صحابهؓ اوده شو. بیا چه کله سحر نزدے شو نو بلالؓ د نمر خاتهٔ په طرف مخ کړو. او خپلے اوښے ته ئے ډډه اووهله. او د هغهٔ سترګے پټے شوے. بیا نهٔ خو رسول اللهﷺ ویښ شو او نهٔ بلالؓ او نهٔ بل یو سړے د هغهٔ د صحابوؓ نه تردے پورے چه په هغوی باندے نمر اولګیدو. بیا رسول اللهﷺ د ټولو نه مخکښې ویخ شو. او اویریدهٔ او اوئے فرمایل. اے بلالؓ! نو بلال عرض اوکړو چه څما روح هم هغه نیولے دے. چا چه ستا روح اونیوو. څما پلار مور د ستا نه قربان وی یا رسول اللهﷺ! حضرتﷺ اوفرمایل اوښانو لره اوشړه. بیائے څهٔ لږ لرے اوښانو لره اوشړل بیا رسول اللهﷺ اودس اوکړو او بلالؓ ته ئے حکم اوکړو. او بلالؓ د مانځهٔ تکبیر اوکړو او نبی کریمﷺ د سحر مونځ ورکړلو. بیا کله چه مونځ ادا شو نو اوئے فرمایل. د چا چه هیر شی مانځهٔ لره نو ادا دې ئے کړی کله چه ورته راياد شی. ځکه الله تعالی فرمائی. څما د یاد دپاره مونځ قائم کړئ. یونس وبلی دی چه ابن شهاب به دے آیت لره دغه شان لوستلو. أَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي . یعنی قائم کړئ مانځهٔ لره د یاداشت دپاره.

ابوهریره وبلی دی چه یوه شپه مونږه د شپے په آخری حصّه کښې کوز

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نَسْتَيْقِظْ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَأْخُذْ كُلُّ رَجُلٍ بِرَأْسِ رَاحِلَتِهِ فَإِنَّ هٰذَا مَنْزِلٌ حَضَرَنَا فِيهِ الشَّيْطَانُ قَالَ فَفَعَلْنَا ثُمَّ دَعَا بِالْمَاءِ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ وَقَالَ يَعْقُوبُ ثُمَّ صَلَّى سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى الْغَدَاةَ

شو (یعنی د سورلیٔ نه په لاره کښې او اودهٔ شو) او ویخ نهٔ شو تردے پورے چه نمر رااوختو. پس نبی کریم ﷺ اوفرمایل چه هر سړے واګے د خپل اوښ اونیسیٔ چه دا کور دے د شیطان. بیا مونږ دغه شان اوکړل (یعنی د هغه میدان نه بهر شو) بیا مونږ اوبهٔ اوغوښتے او اودس مو اوکړو. او دوه رکعته مونځ مو اوکړو. او یعقوب د سجدے په ځائے صلّی ویلی دی بیا د مانځهٔ تکبیر اوشو او د سحر فرض مو ادا کړل

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّكُمْ تَسِيرُونَ عَشِيَّتَكُمْ وَلَيْلَتَكُمْ وَتَأْتُونَ الْمَاءَ إِنْ شَاءَ اللهُ غَدًا فَانْطَلَقَ النَّاسُ لَا يَلْوِي أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ قَالَ أَبُو قَتَادَةَ فَبَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيرُ حَتّٰى ابْهَارَّ اللَّيْلُ وَأَنَا إِلَى جَنْبِهِ قَالَ فَنَعَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَالَ عَنْ رَاحِلَتِهِ فَأَتَيْتُهُ فَدَعَمْتُهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ أُوقِظَهُ حَتّٰى اعْتَدَلَ عَلَى رَاحِلَتِهِ قَالَ ثُمَّ سَارَ حَتّٰى تَهَوَّرَ اللَّيْلُ مَالَ عَنْ رَاحِلَتِهِ قَالَ فَدَعَمْتُهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ أُوقِظَهُ حَتّٰى اعْتَدَلَ عَلَى رَاحِلَتِهِ قَالَ ثُمَّ سَارَ حَتّٰى إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ السَّحَرِ مَالَ مَيْلَةً هِيَ أَشَدُّ مِنَ الْمَيْلَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ حَتّٰى كَادَ يَنْجَفِلُ فَأَتَيْتُهُ فَدَعَمْتُهُ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ مَنْ هٰذَا قُلْتُ أَبُو قَتَادَةَ قَالَ مَتَى كَانَ

ابوقتادهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ مونږ ته خطبه اولوسته. او اوئے فرمایل چه تاسو به نن د زوال نه پس او خپله ټوله شپه چلیږئ او کلخدائے غواړی نو صبا سحر به اوبو ته اورسئ. پس خلق په داسے شان روان شو چه څوک د چا په طرف متوجه کیدلو نهٔ ابوقتادهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ روان وو. تردے پورے چه نیمه شپه شوله. او زهٔ د هغهٔ نه یوے ډډے ته وم. او هغهٔ خوب اوزنګولو او په خپله سورلیٔ باندے رابنکته شو (یعنی د خوب د غلبے د وجے نه) زهٔ راغلم او هغهٔ ته م تکیه ورکړه (یعنی ددے دپاره چه ګزار نهٔ شی) بغیر ددے نه چه زهٔ د هغهٔ لره ویخ کړم. تردے پوری چه هغهٔ بیا نیغ کیناستلو. بیا روان وو تردے پوری چه کله ډیره شپه تیره شوه. بیا هغهٔ خوب اوزنګولو. او ما بیا تکیه ورکړه. بغیر ددے نه چه زهٔ هغویٔ لره ویخ کړم. تردے پورے چه هغویٔ بیا نیغ کیناستلو. بیا روان شو تردے پورے د سحر وخت راغے. بیا یو ځل ډیر زیات راټیټ شو چه د مخکښنی دواړو ځلو نه هُم زیات ووچه پریوتوته نږدے وو. بیا زهٔ راغلم او دوی مے رااونیول بیا هغویٔ سر اوچت کړو او وے فرمایل دا څوک دے؟ ما عرض

هٰذَا مَسِيرُكَ مِنِّي قُلْتُ مَا زَالَ هٰذَا
مَسِيرِي مُنْذُ اللَّيْلَةِ قَالَ حَفِظَكَ اللّٰهُ بِمَا
حَفِظْتَ بِهِ نَبِيَّهُ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَرَانَا نَخْفَى عَلَى
النَّاسِ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَرَى مِنْ أَحَدٍ قُلْتُ هٰذَا
رَاكِبٌ ثُمَّ قُلْتُ هٰذَا رَاكِبٌ آخَرُ حَتَّى
اجْتَمَعْنَا فَكُنَّا سَبْعَةَ رَكْبٍ قَالَ فَمَالَ
رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ
الطَّرِيقِ فَوَضَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ احْفَظُوا عَلَيْنَا
صَلَاتَنَا فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالشَّمْسُ فِي ظَهْرِهِ
قَالَ فَقُمْنَا فَزِعِينَ ثُمَّ قَالَ ارْكَبُوا فَرَكِبْنَا
فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ نَزَلَ ثُمَّ
دَعَا بِمِيضَأَةٍ كَانَتْ مَعِي فِيهَا شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ
قَالَ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا وُضُوءًا دُونَ وُضُوءٍ قَالَ
وَبَقِيَ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ ثُمَّ قَالَ لِأَبِي قَتَادَةَ
احْفَظْ عَلَيْنَا مِيضَأَتَكَ فَسَيَكُونُ لَهَا نَبَأٌ ثُمَّ
أَذَّنَ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ
فَصَنَعَ كَمَا كَانَ يَصْنَعُ كُلَّ يَوْمٍ قَالَ وَرَكِبَ
رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكِبْنَا
مَعَهُ قَالَ فَجَعَلَ بَعْضُنَا يَهْمِسُ إِلَى بَعْضٍ مَا
كَفَّارَةُ مَا صَنَعْنَا بِتَفْرِيطِنَا فِي صَلَاتِنَا ثُمَّ قَالَ
أَمَا لَكُمْ فِيَّ أُسْوَةٌ ثُمَّ قَالَ أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ فِي

اوکړو اوقتاده. هغوی ؐاوفرمایل چه کوم وخت نه خما سره داسے روان یے؟ ما عرض اوکړو چه د شپے نه ستاسو سره دغسے روان یم هغوی ؐاوفرمایل. خدائے د ستا حفاظت اوکړی څنګه چه تا د هغهٔ د پیغمبر حفاظت اوکړو. بیا هغوی ؐاوفرمایل. تهٔ مونږ وینے چه مونږ د خلقو د نظرونو نه پټ یو. بیا هغوی ؐاوفرمایل تهٔ چا لره وینے. ما اووے آو دا یو سور دے. بیا مے اووے دا یو بل سور دے. تردے پورے چه مونږ اووهٔ سوارهٔ جمع شو نو رسول اللهﷺ د لاړ نه یو طرفته ځانله شو او سر ئے په زمکه کیخودهٔ (یعنی د خوب دپاره) او اووے فرمایل چه تاسو خلق زمونږ د مانځهٔ خیال ساتے (یعنی د مانځهٔ په وخت مے راپاسوئ) بیا چه اول څوک پاسیدهٔ هغه رسول اللهﷺ وو او نمر د هغوی په شا راغلے وو. بیا مونږ خلق اوېریدو او پاسیدو او هغوی ؐاوفرمایل چه سوارهٔ شئ. بیا روان شو تردے پورے چه نمر ښهٔ اوچت راغے او هغوی ؐراکوز شو. د خپل اودس لوټا ئے اوغوښته چه خما سره وه او په هغے کښې لږ اوبهٔ وے. بیا هغوی په هغے اوبو اودس اوکړو (چه د نورو اودسونو نه کمے وے. یعنی ډیرے په لږو اوبهٔ سره ډیر زر) او په هغے کښې لږے شان اوبهٔ پاتے شوے. بیائے قتادهؓ ته اوفرمایل چه زمونږ لوټے لره کیده چه ددے به یو ناشنا حالت وی. بیا بلالؓ د مانځهٔ اذان اوکړو. او نبیﷺ دوه رکعته مونځ اوکړو. بیائے د سحر مونځ داسے اوکړو. لکه څنګه چه هره ورځ ادا کوی. او هغهٔ هم او مونږ د هغهٔ سره سوارهٔ شو. بیا زمونږ نه هر یو په پټه پټه سره ویلو. چه نن به زمونږ ددے قصور څهٔ نازله وی. کوم چه مونږ په مانځهٔ کښې قصور اوکړو. بیا حضرتؐ اوفرمایل. ولے زهٔ ستاو خلقو پیشوا نهٔ یم. بیا ئے اوفرمایل چه په

النَّوْمِ تَفْرِيطٌ إِنَّمَا التَّفْرِيطُ عَلَى مَنْ لَمْ
يُصَلِّ الصَّلَاةَ حَتَّى يَجِيءَ وَقْتُ الصَّلَاةِ
الْأُخْرَى فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَلْيُصَلِّهَا حِينَ
يَنْتَبِهُ لَهَا فَإِذَا كَانَ الْغَدُ فَلْيُصَلِّهَا عِنْدَ وَقْتِهَا
ثُمَّ قَالَ مَا تَرَوْنَ النَّاسَ صَنَعُوا قَالَ ثُمَّ قَالَ
أَصْبَحَ النَّاسُ فَقَدُوا نَبِيَّهُمْ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ
وَعُمَرُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بَعْدَكُمْ لَمْ يَكُنْ لِيُخَلِّفَكُمْ وَقَالَ النَّاسُ إِنَّ
رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ
أَيْدِيكُمْ فَإِنْ يُطِيعُوا أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ يَرْشُدُوا
قَالَ فَانْتَهَيْنَا إِلَى النَّاسِ حِينَ امْتَدَّ النَّهَارُ
وَحَمِيَ كُلُّ شَيْءٍ وَهُمْ يَقُولُونَ يَا رَسُولَ
اللَّهِ هَلَكْنَا عَطِشْنَا فَقَالَ لَا هُلْكَ عَلَيْكُمْ ثُمَّ
قَالَ أَطْلِقُوا لِي غُمَرِي قَالَ وَدَعَا بِالْمِيضَأَةِ
فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَصُبُّ وَأَبُو قَتَادَةَ يَسْقِيهِمْ فَلَمْ يَعْدُ أَنْ رَأَى
النَّاسُ مَاءً فِي الْمِيضَأَةِ تَكَابُّوا عَلَيْهَا فَقَالَ
سُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسِنُوا
ـمَـ كُلُّكُمْ سَيَرْوَى قَالَ فَفَعَلُوا فَجَعَلَ
سُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُبُّ
سْقِيهِمْ حَتَّى مَا بَقِيَ غَيْرِي وَغَيْرُ رَسُولِ
صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثُمَّ صَبَّ
ولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي

اوده کیدو کښې څۀ قصور دے. قصور خو دادے چه چه یو سړے مونځ اونۀ کړی تردے پورې چه د مانځۀ بل وخت راشی (یعنی په ویښه ئے قضاء کړی) بیا چه کوم څوک داسې اوکړی (یعنی د هغۀ نه مونځ قضاء شی) نو لازمه ده چه کله هوښیار وی ادائے کړی. بیا چه دویمه ورځ راشی نو خپل مونځ په مقرر وخت ادا کړی (یعنی دا نه چه په یو ځل قضا کیدو سره د مانځۀ وخت بدل کړی) بیائے اوفرمایل. چه ستاسو څۀ خیال دے چه خلقو له به څۀ څۀ وی. بیائے اوفرمائیل چه خلقو کله سحر کړو نو خپل نبیؐ ئے اونۀ موندو. بیا ابوبکرؓ او عمرؓ اووے چه رسول الله ﷺ به ستاسو شا ته وی. هغه داسې نۀ دے چه تاسو له روستو پریږدی. او نورو خلقو اووے چه رسول الله ﷺ ستاسو نه مخکښې دے. بیا هغه خلقو کۀ چرے د ابوبکرؓ او عمرؓ خبره منلے نو نیغه لارئے موندله (دا خبر هغۀ د معجزے په طور ورکړو) راوی وائی چه بیا مونږ خلقو ته را اورسیدل هغه وخت چه ورځ راختلی وه او هر څیز گرم شوے وو. او خلقو اوویل چه اے د خدائے رسوله مونږ خو مړه شو او تږی شو. هغۀ اوفرمایل. نا تاسو مړۀ نۀ یئ. بیائے اوفرمایل چه خما هغه وړه پیاله راوړئ او هغه لوټا ئے اوغوښته او رسول الله ﷺ اوبۀ ډکول شروع کړل او ابوقتادهؓ به خلقو باندے اوبۀ څکول شروع کړل بیا چه کله خلقو اولیدل چه د اوبو یوه لوټه ډکه ده. نو خلق راپریوتل په هغے باندے (یعنی هر سړے اویریدو چه اوبۀ لږے دی چرته محروم پاتے نۀ شم) بیا هغۀ اوفرمایل. ښۀ په قلاره اخلئ تاسو ټول به ماړۀ شئ غرض دا چه بیا خلقو په آرام سره اخستل شروع کړل او رسول الله ﷺ اوبۀ غورځول او ما به په خلقو څکلے تر دے پورے چه

اشْرَبْ فَقُلْتُ لَا أَشْرَبُ حَتَّى تَشْرَبَ يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ إِنَّ سَاقِيَ الْقَوْمِ آخِرُهُمْ شُرْبًا قَالَ فَشَرِبْتُ وَشَرِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَتَى النَّاسُ الْمَاءَ جَامِّينَ رِوَاءً قَالَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ رَبَاحٍ إِنِّي لَأُحَدِّثُ هَذَا الْحَدِيثَ فِي مَسْجِدِ الْجَامِعِ إِذْ قَالَ عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ انْظُرْ أَيُّهَا الْفَتَى كَيْفَ تُحَدِّثُ فَإِنِّي أَحَدُ الرَّكْبِ تِلْكَ اللَّيْلَةَ قَالَ قُلْتُ فَأَنْتَ أَعْلَمُ بِالْحَدِيثِ فَقَالَ مِمَّنْ أَنْتَ قُلْتُ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ حَدِّثْ فَأَنْتُمْ أَعْلَمُ بِحَدِيثِكُمْ قَالَ فَحَدَّثْتُ الْقَوْمَ فَقَالَ عِمْرَانُ لَقَدْ شَهِدْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَمَا شَعَرْتُ أَنَّ أَحَدًا حَفِظَهُ كَمَا حَفِظْتُهُ

خما او د رسول الله ﷺ نه علاوه نور څوک باقي پاتې نۀ شو. (راوی) وائی چه بیائے اوبۀ اوغورځولے او ماته ئے اوفرمایل چه اوڅکه: ما عرض اوکړو چه زۀ نۀ څکم د کومے پورے تاسو نۀ وی څکلی اے د الله رسوله! هغۀ اوفرمایل. د قوم څکونکے د ټولو نه په آخر کښې اوبۀ څکی. بیا ما اوڅکلے. (راوی ویلی دی. بیا په اوبو باندے خوشحاله خوشحاله او بنۀ اورسیدل. (راوی) ویلی دی چه عبد الله بن رباح وائی چه ما خلقو ته دغه حدیث روایت کولو په جامع مسجد کښې چه عمران بن حصین اووے. خیال کوه اے ځوانه چه ته څۀ وائے. ځکه چه زۀ هم په دغه شپۀ ئو سوروم. نو ما اوے. ته به دے خبرے نه بنۀ خبر ئے. هغوی اووے چه تاسو د کوم قوم نه یئ؟ ما اووے چه زۀ د انصارو نه یم. هغوی اووے. ته خپلو حدیثونو لره بنۀ پیژنے. بیا ما خلقو ته پوره روایت بیان کړو. بیا عمران اووے چه زۀ هم په دغه شپه حاضر وم مګر زۀ نۀ پوهیږم چه څنګه یاد ساتلے دے دغسے به بل راوی یاد ساتلے وی[1].

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسِيرٍ لَهُ فَأَدْلَجْنَا لَيْلَتَنَا حَتَّى إِذَا كَانَ فِي وَجْهِ الصُّبْحِ عَرَّسْنَا فَغَلَبَتْنَا أَعْيُنُنَا حَتَّى بَزَغَتِ الشَّمْسُ قَالَ فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ مِنَّا

عمران بن حصین ویلی دی چه زۀ د نبی ﷺ سره په یو سفر کښې وم. نو یوه شپه مونږ روان وو تردے پورے چه آخری شپه شوه نو کوز شو او زمونږ سترګے پټے شوی تردے پورے چه نمر راااوختو. نو د ټولو نه مخکښې ابوبکر ویخ شو او زمونږ عادت وو چه مونږه به نبی ﷺ لره د خوب نه نۀ ویخولو (چه کیدے شی وحی نازله نۀ شی) د کومے پورے

[1] نووی رحمه الله ویلی دی چه ددے حدیث کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو معجزے ذکر شوے. یوه دا چه د هغۀ خبر ورکول چه ددے لوټے نه به عجیب کیفیت ظاهر شی. او دغه شان اوشوه چه په زرګونو بنیادم به په هغے ماړه شی. دویمه دا چه د لږو اوبو ډیریدل دریم د هغۀ دا فرمان چه تاسو ټول به ماړه او خوشحاله شئ. او هغه شان اوشوه. څلورمه د هغۀ دا خبر ورکول چه ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه داسے اووے او نورو خلقو دا اووے. او دغسے ئے کړی وو. پنځم دا چه هغۀ خبر ورکړو چه نن به د شپے ټوله شپه مخل کوئ. او سحر له به اوبو ته رسیږئ. او دغه شان اوشوه.

الو بكرٍ وكُنَّا لَا نُوقِظُ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَنَامِهِ إِذَا نَامَ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ عُمَرُ فَقَامَ عِنْدَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالتَّكْبِيرِ حَتَّى اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ وَرَأَى الشَّمْسَ قَدْ بَزَغَتْ قَالَ ارْتَحِلُوا فَسَارَ بِنَا حَتَّى إِذَا ابْيَضَّتِ الشَّمْسُ نَزَلَ فَصَلَّى بِنَا الْغَدَاةَ فَاعْتَزَلَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ لَمْ يُصَلِّ مَعَنَا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا فُلَانُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَنَا قَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ أَصَابَتْنِي جَنَابَةٌ فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَيَمَّمَ بِالصَّعِيدِ فَصَلَّى ثُمَّ عَجَّلَنِي فِي رَكْبٍ بَيْنَ يَدَيْهِ نَطْلُبُ الْمَاءَ وَقَدْ عَطِشْنَا عَطَشًا شَدِيدًا فَبَيْنَمَا نَحْنُ نَسِيرُ إِذَا نَحْنُ بِامْرَأَةٍ سَادِلَةٍ رِجْلَيْهَا بَيْنَ مَزَادَتَيْنِ فَقُلْنَا لَهَا أَيْنَ الْمَاءُ قَالَتْ أَيْهَاهْ أَيْهَاهْ لَا مَاءَ لَكُمْ قُلْنَا فَكَمْ بَيْنَ أَهْلِكِ وَبَيْنَ الْمَاءِ قَالَتْ مَسِيرَةُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ قُلْنَا انْطَلِقِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ وَمَا رَسُولُ اللهِ فَلَمْ نُمَلِّكْهَا مِنْ أَمْرِهَا شَيْئًا حَتَّى انْطَلَقْنَا بِهَا فَاسْتَقْبَلْنَا بِهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

چه هغه په خپله ويخ شوے نۀ وی. بيا حضرت عمرؓ ويخ شو او د رسول اللهﷺ په خواه کښې اودريدو او په اوچت آواز سره ئے الله اکبر ويل شروع کړل تر دے پورے چه رسول اللهﷺ ويخ شو. بيا چه هغۀ کله سر اوچت کړو. او نمر ئے ختلے اوليدۀ نو اوئے فرمايل چه ځئ او زمونږ سره هغهؓ هم روان شو. تر دے پورے چه کله نمر صفا شو نو زمونږ سره ئے د سحر مونځ اوکړو. او يو سړے د جماعت نه جدا پاتے شو چه هغه زمونږ سره مونځ ادا نۀ کړو. کله چه حضرتؐ د مانځۀ نه فارغ شو. نو هغۀ ته ئے اوفرمايل. تۀ ولے زمونږ سره د مونځ د ادا کولو نه پاتے شوے. هغۀ عرض اوکړو چه اے د الله نبیﷺ ما ته جنابت شوے دے. بيا هغۀ ته نبی کريمﷺ حکم اوکړو. نو هغۀ په خاوره تيمم اوهلو. او مونځ ئے اوکړو. بيا حضرتؐ د څو سورو کسانو سره زۀ اوګرځولم چه اوبۀ چرته پيدا کړو. او مونږ ډير تږی شوی وو. بيا مونږ روان وو. چه يوه ښځه مونږ اوليدله چه خپلے دواړه خپے ئے زوړندے کړے وے په دوو مشکونو باندے ناسته روانه وه (يعنی په اوبو باندے) نو مونږ هغے ته اووے. چه اوبۀ کوم ځائے دی؟ هغے اووے ډيرے لرے دی. تاسو ته اوبه نۀ شی ميلاويدے. مونږه اووے. ستا د کور والو نه اوبۀ څومره لرے دی؟ هغے اووے د يوے شپے ورځے لاره ده. مونږه اووے. ځۀ ته لاړ شه د رسول اللهﷺ خواله. هغے اووے چه رسول اللهﷺ څۀ دے؟ غرض دا چه مونږ هغے لره مجبوره کړه او د رسول اللهﷺ خواله مو راوسته. او حضرتؐ د هغے د حال تپوس اوکړو. بيا هغے هغۀ لره د خپل حال نه ئے خبر کړو. لکه څنګه چه هغے مونږه خبر کړی وو. او دائے اوويل چه هغه د يتيمانو مور ده. او د هغے سره څو بچی بے پلاره دی. غرض دا چه حضرت اوفرمايل. چه دد دے اوبۀ د کينولے شی. بيا هغه کينولے شو.

وسلم فسألها فأخبرته مثل الذي أخبرتنا وأخبرته أنها موتمة لها صبيان أيتام فأمر براويتها فأنيخت فمج في العزلاوين العلياوين ثم بعث براويتها فشربنا ونحن أربعون رجلا عطاش حتى روينا وملأنا كل قربة معنا وإداوة وغسلنا صاحبنا غير أنا لم نسق بعيرا وهي تكاد تنضرج من الماء يعني المزادتين ثم قال هاتوا ما كان عندكم فجمعنا لها من كسر وتمر وصر لها صرة فقال لها اذهبي فأطعمي هذا عيالك واعلمي أنا لم نرزأ من مائك فلما أتت أهلها قالت لقد لقيت أسحر البشر أو إنه لنبي كما زعم كان من أمره ذيت وذيت فهدى الله ذاك الصرم بتلك المرأة فأسلمت وأسلموا

او حضرتؐ د هغې مشکونو په خُلو کښې خپله خلۀ مبارکه کنګال کړه او اوبۀ ئې بیا اودرولو. بیا مونږ ټولو اوبۀ اوڅکلې. او مونږ ټول څلویښت سړی وو. ډیر زیات تږی وو تردې پورې چه مونږ ټول نۀ ماړۀ شو او د خان سره ټول مشکونه او بتکی مو ډک کړل او کوم ملګری ته چه جنابت وو هغۀ پر اولامبل. مګر په یو اوبۀ مو اوبۀ اونۀ څکولې. او د هغې مشکونه هغه شان د ابو نه ډک پراتۀ وو. بیا حضرتؐ اوفرمایل پتاسو کښې چه د چا سره څۀ وی راوړئ. بیا مونږ ډیرو ټکړو او کهجوو لره جمع کړې او هغۀ د هغې نه یوه پنډوکې جوړ کړو. او هغې نیک بختې ته ئې اوفرمایل چه دا یوسه او په خپلو بچو اوخوره وه. او پوهه شه چه مونږ ستا وبۀ څۀ همهٔ دی کمې کړې. بیا چه کله هغه خپل کورته اورسیده نو اوې وئیل یو داسې لوئې جادوګر سړی سره میلاؤ شوم یا بیشکه هغه نبیؐ دې. لکه چه دعوه کوی. او د هغۀ ټوله معجزه ئې بیان کړه. چه دا دا تیر شو. بیا الله تعالی هغې ټول کلی ته د هغې ښځې په وجه سره هدایت اوکړه او هغې هم اسلام راوړو او د کلی خلقو هم اسلام قبول کړو[1].

عن عمران بن الحصين قال كنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم في سفر فسرينا ليلة حتى إذا كان من آخر الليل قبيل الصبح وقعنا تلك الوقعة التي لا وقعة عند المسافر أحلى منها فما أيقظنا إلا حر الشمس وساق الحديث بنحو حديث سلم بن زرير وزاد ونقص وقال في

عمران بن حصینؓ ویلی دی چه مونږ یوه شپه د رسول اللهؐ سره روان وو. تردې پورې چه کله د شپې آخره حصه شوه او سحر نزدې شو. نو پریوتو. داسې پریوتل چه په داسې پریوتو سره مسافر ته څۀ سملاستل مزیدار نۀ دی. بیا ویخ نۀ کړلو مونږ مګر د نمر ګرمئ. او بیان ئې کړو روایت لره په شان د روایت د سلم بن زریر (یعنی کوم چه اوس مخکښې تیر شو) او په دې کښې دا هم دی. چه

[1] په دې حدیث کښې د رسول اللهؐ لویه معجزه ده. او جواز د دې هغه د نرم زړۀ او د سخاوت او د اوبو نه میلاویدو په وخت د تیمم او دا هم چه جنب ته کله اوبۀ میلاؤ شي غسل به کوی. خواه که د مانځۀ وخت وی یا نۀ وی.

الْحَدِيْثِ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ عُمَرُبْنُ الْخَطَّابِ وَرَأَى مَا أَصَابَ النَّاسَ وَكَانَ أَجْوَفَ جَلِيدًا فَكَبَّرَ وَرَفَعَ صَوْتَهُ بِالتَّكْبِيرِ حَتَّى اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِشِدَّةِ صَوْتِهِ بِالتَّكْبِيرِ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ ﷺ شَكَوْا إِلَيْهِ الَّذِي أَصَابَهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا ضَيْرَ ارْتَحِلُوا وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ

کله حضرت عمرؓ ویښ شولو او د خلقو حال ئے اولیدو. او هغه لوئے آواز والا طاقتور وو. غرض دا چه هغوی الله اکبر ویل شروع کړو. او آواز ئے اوچت کړو تر دے پورے چه رسول الله ﷺ د هغهٔ په اوچت آواز سره ویښ شو پاڅیدو. بیا چه کله رسول الله ﷺ ویښ شو. نو خلقو ورته خپل حال بیان کړو. حضرتؐ اوفرمایل. څهٔ حرج نشته څئ او د اخره پورے روایت ئے بیان کړو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِكَ قَالَ قَتَادَةُ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي

انس بن مالکؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه د چا نه مونځ هیر شی. نو کله چه ورته رایاد شی ادا د کړی. دغه د هغهٔ کفاره ده. قتادهؒ ویلی دی چه الله تعالی فرمائی. او قائم کړه تهٔ مانځهٔ لره ځما د یادولو دپاره.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَقَدَ أَحَدُكُمْ عَنِ الصَّلَاةِ أَوْ غَفَلَ عَنْهَا فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللهَ يَقُولُ أَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي (طٰه: ۱۴)

انس بن مالکؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی کله چه څوک اودهٔ شی یا د مانځهٔ نه غافل شی. نو پکار ده چه کله ورته راید شی ادا دِ ئے کړی. ځکه چه الله تعالی فرمائی. قائم کړئ مانځهٔ لره ځما د یادولو دپاره.

كِتَاب صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ وَقَصْرِهَا

د مسافر د مانځۀ بیان

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَأُقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ وَزِيدَ فِي صَلَاةِ الْحَضَرِ

د اُمُّ المؤمنين حضرت عائشے رضي الله عنها نه روايت دے چه هغوی فرمايلی دی. فرض شوے وو مونځ دوه دوه رکعته په حضر کښې هم او په سفر کښې هم بيا مونځ او په سفر کښې هم بيا د سفر مونځ هغه شان پاتے شو. او د حضر مونځ سوا شو[2].

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ فَرَضَ اللهُ الصَّلَاةَ حِينَ فَرَضَهَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَتَمَّهَا فِي الْحَضَرِ فَأُقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ عَلَى الْفَرِيضَةِ الْأُولَى

د اُمُّ المؤمنين حضرت عائشے رضي الله عنها نه روايت دے چه هغوی فرمايلی دی چه الله تعالیٰ فرض کړو مانځۀ لره دوه رکعته بيائے سوا کړو په حضر کښې او دغه هومره ئے پريخودل په سفر کښې څومره چه مخکښې فرض شوی وو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ الصَّلَاةَ أَوَّلَ مَا فُرِضَتْ رَكْعَتَيْنِ فَأُقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ وَأُتِمَّتْ صَلَاةُ الْحَضَرِ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَقُلْتُ لِعُرْوَةَ مَا بَالُ عَائِشَةَ تُتِمُّ فِي السَّفَرِ قَالَ إِنَّهَا تَأَوَّلَتْ كَمَا تَأَوَّلَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

حضرت عائشے رضي الله عنها وېلی دی چه په شروع کښې هم دوه رکعتونه فرض کړے شوی وو. بيا د سفر مونځ هغه هومره پاتے شو او د حضر هغه پوره کړے شو. زهری رحمه الله وېلی دی چه ما د عُروه نه تپوس اوکړو. چه بيا حضرت عائشے رضي الله عنها په سفر کښې پوره مونځ ولے کولو؟ (يعنی د هغے په نز خو دوه رکعته فرض وو) بيا هغوی اووے. چه حضرت عائشے رضي الله عنها هغه تاويل کړے دے کوم تاويل چه حضرت عثمان رضي الله عنه کړے دے (هغه به هم پوره کولو. لکه چه مونږ پورته وېلی دی)

عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا[1] فَقَدْ أَمِنَ

يعلی بن اُميه وېلی دی چه ما د حضرت عمر رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه الله تعالیٰ خو فرمائی چه څۀ پرواه نشته چه کۀ چرے قصر اوکړئ تاسو په مانځۀ کښې کۀ چرے يره وی تاسو ته چه کافر به مو تنګ کړی او اوس خو خلق په امن کښې شو (يعنی ولے اوس قصر ضروری دے؟)

---

[1] سورة نساء ۱۰۱

[2] نووی رحمه الله وېلی دی چه د مالک بن انس او امام شافعی رحمهما الله او د اکثرو علماؤ مذهب دا دے چه قصر او پوره کول د مانځۀ د سفر په دواړو کښې جائز دی مګر قصر غوره دے. او د بعضو قول دے. چه پوره کول غوره دی. اومذهب صحيح او مشهور

النَّاسُ فَقَالَ عَجِبْتُ مِمَّا عَجِبْتَ مِنْهُ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ صَدَقَةٌ تَصَدَّقَ اللهُ بِهَا عَلَيْكُمْ فَاقْبَلُوا صَدَقَتَهُ

نو هغوی اوے. دغه شان زهٔ هم حیران شوے وم لکه چه تهٔ حیران شوے. نو ما د رسول الله ﷺ نه ددے خبرے تپوس اوکړو نو هغهٔ اوفرمایل چه دا الله تاسو له صدقه درکړے ده. نو د هغهٔ صدقه قبوله کړه (یعني بغیر د یرے نه هم په سفر کښې قصر کوه)[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فَرَضَ اللهُ الصَّلَاةَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ أَرْبَعًا وَفِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً

عبد الله ابن عباس ویلی دی چه الله تعالی ستاسو د نبی ﷺ په ژبه باندے په حضر کښې څلور رکعته مقرر کړی دی. او په سفر کښې دوه او په خوف کښې یو رکعت ئے مقرر کړے دے[2].

عَنْ مُوسَى بْنِ سَلَمَةَ الْهُذَلِيِّ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ كَيْفَ أُصَلِّي إِذَا كُنْتُ بِمَكَّةَ إِذَا لَمْ أُصَلِّ مَعَ الْإِمَامِ فَقَالَ رَكْعَتَيْنِ سُنَّةَ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د موسیٰ بن سلمهٔ نه روایت دے چه ما د ابن عباس نه تپوس اوکړو چه کله زهٔ په مکه کښې یم (یعني په سفر کښې) او د امام سره مونځ نهٔ وی. نو څنګه به مونځ ادا کوم؟ هغوی اوفرمایل. چه دوه رکعته کول سنت دی د ابو القاسم ﷺ (ابو القاسم د حضور ﷺ کنیت دے)

دغهٔ دے چه قصر غوره دے او د امام ابوحنیفه رحمه الله او د اکثرو مذهب دادے چه قصر واجب دے. او پوره کول جائز نهٔ دی. او د هغے دلیل د غه حدیث دے. او دا هم دلیل دے. چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغهٔ د صحابو رضی الله عنهم فعل دغه وو. چه هغوی به په سفر کښې قصر کولو. او د شافعیو په نز هغه روایتونه دلیل دی. چه په هغے کښې ذکر دی چه د رسول الله ﷺ سره چه په سفر کښې کوم صحابه وو په هغوی کښې به چا پوره کول چا به قصر کولو چا به روژه نیوه چا به افطار کولو. او په یو بل باندے به ئے طعن نهٔ کولو او دا روایتونه په صحیح مسلم وغیره کښې راغلی دی. او حضرت عثمان به همیشه پوره مونځ ورکولو او دغه شان حضرت عائشے رضی الله عنها چه د تولو مجتهدینو مور ده او د الله ددے قول ظاهری معنی هم دادے ده. فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلٰوةِ او کوم خلق چه د پوره مانځهٔ د جواز په سفر کښې قائل شوی دی. هغوی د حضرت عائشے رضی الله عنها ددے روایت جواب ورکړے دے چه فرض شوی دی دوه رکعتونه یعنی کوم چه اراده اوکړی په دغه دوه رکعتونو باندے د کمی کولو او مونږ د جواز د پوره کولو کهٔ چرے قائل شو نو په تولو روایتونو کښې تطبیق کیدے شی.

[1] دا د هغه خلقو دلیل دے چه قصر د افضل یا واجب وائی.

[2] نووی ویلی دی چه د سلفو یو جماعت په دے قول عمل کړے دے چه د یرے په وخت ئے یو رکعت ادا کړے دے چنانچه د حسن او ضحاک او اسحق بن راهویه رحمهم الله دغه مذهب دے. او د امام شافعی امام مالک رحمهما الله او د جمهورو مذهب دادے چه صلوة خوف د صلوة امن برابر دے یعنی د حضر کښې څلور او په سفر کښې دوه رکعتونه او یو رکعت د دغه خلقو په نز په هر حال کښې روا دے او هغوی د هغے قول جواب ورکړے دے چه د یو رکعت نه مراد هغه رکعت دے. کوم چه د امام سره ادا کیږی او دویم خانله کولے شی لکه څنګه چه په روایات صحیحه کښې د صلوة خوف اندازه د رسول الله ﷺ نه مروی ده او ددے تاویل نه په هغه حدیثونو کښې او په دے قول کښې تطبیق کیدے شی

عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ قَالَ فَصَلَّى لَنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَقْبَلَ وَأَقْبَلْنَا مَعَهُ حَتَّى جَاءَ رَحْلَهُ وَجَلَسَ وَجَلَسْنَا مَعَهُ فَحَانَتْ مِنْهُ الْتِفَاتَةٌ نَحْوَ حَيْثُ صَلَّى فَرَأَى نَاسًا قِيَامًا فَقَالَ مَا يَصْنَعُ هَؤُلَاءِ قُلْتُ يُسَبِّحُونَ قَالَ لَوْ كُنْتُ مُسَبِّحًا لَأَتْمَمْتُ صَلَاتِي يَا ابْنَ أَخِي إِنِّي صَحِبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ وَصَحِبْتُ أَبَا بَكْرٍ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ وَصَحِبْتُ عُمَرَ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ ثُمَّ صَحِبْتُ عُثْمَانَ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ وَقَدْ قَالَ اللهُ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

حفص بن عاصم ویلی دی چه زهٔ د مکے په لاره کښې د عبد الله بن عمرؓ سره وم. نو هغوی مونږ له د ماسپخین دوه رکعته مونځ راکړو. بیا راغے او مونږ هم د هغهٔ سره راغلو تر دے پورے چه د خپلو کوزیدو ځائے ته رااورسیدو او کیناستو او مونږ هم دهغهٔ سره کیناستو. او د هغهٔ نظر په هغه ځائے باندے پریوتو کوم ځائے چه مونږ مونځ کړے وو نو هلته ئے څهٔ خلق لره ولاړ اولیدل نو تپوس ئے اوکړو دا څهٔ کوی؟ ما اووے. دا سنت ادا کوی هغوی اووے. کهٔ چرے ما ته سنت کول وے نو ما به مونځ پوره کړے وو (یعنی فرض به م پوره کړی وو) بیائے اووے اے خما وراره! زهٔ په سفر کښې د رسول الله ﷺ په صحبت کښې پاتے شوے یم نو هغهٔ د دوو رکعتونه زیات نهٔ دی کړی تر دے پورے چه الله تعالیٰ هغهٔ لره وفات کړو. او د ابوبکرؓ سره پاتے شوے یم نو هغهٔ د دوو رکعتو نه زیات نهٔ دی کړی تر دے پورے چه الله تعالیٰ هغهٔ لره هم وفات کړو. او د عمرؓ سره اوسیدلے یم نو هغوی هم د دوو رکعتونه زیات نهٔ دی لوستلی. تر دے پورے چه الله تعالیٰ هغهٔ لره هم وفات کړو. او د حضرت عثمانؓ سره اوسیدلے یم نو هغوی هم د دوو نه زیات نهٔ دی کړی تر دے پوری چه الله تعالیٰ هغوی لره هم وفات کړو. او الله تعالیٰ فرمایلی دی چه ستاسو دپاره د رسول الله ﷺ نقش قدم ښهٔ دے[1]

عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ مَرِضْتُ مَرَضًا

حفص ویلی دی چه زهٔ یو ځل بیمار شوم. او ابن عمرؓ خما تپوس له

٢

[1] دے روایت نه معلومه شوه چه د سنتو کول په سفر کښې سنت نهٔ دی. بلکه علماؤ هغے ته مکروه ویلی دی دغه رنګے د ابن عمرؓ رضی الله عنه او د نورو علماؤ مذهب دغه دے. او امام شافعی رحمه الله او جمهورو ویلی دی چه په سفر کښې په سنتو حکم د نفلو کولے شی او عبد الله بن عمر رضی الله عنه دا چه کوم ویلی دی چه حضرت عثمان رضی الله عنه د آخر عمره پورے د دوو رکعتونه زیات نهٔ دی کړی حالانکه په دویم روایت کښې راغلی دی چه هغهٔ به په سفر کښې پوره مونځ کولو. نو تفصیل د هغے دادے چه په یو روایت کښې راغلی دی چه هغهٔ د خپل خلافت شپږ کاله روسته مونځ ئے پوره کولو او په یو روایت کښې اته کاله مروی دی. او دا پوره کول د هغهٔ په منی کښې وو بقای په غیر منی کښې هغهٔ به ئے هم دوه کول پس عبد الله ابن عمر رضی الله عنه کیدے شی دا مراد اخستے وی چه په غیر منی کښې ئے دوو له کول

فَجَاءَ ابْنُ عُمَرَ يَعُودُنِي قَالَ وَسَأَلْتُهُ عَنِ السُّبْحَةِ فِي السَّفَرِ فَقَالَ صَحِبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ فَمَا رَأَيْتُهُ يُسَبِّحُ وَلَوْ كُنْتُ مُسَبِّحًا لَأَتْمَمْتُ وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

راغے نو ما په سفر کښې د سنتو د لوستول د هغهٔ نه تپوس اوکړو. هغوی اووے. چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره په سفر کښې پاتے شوے یم. او چرته م هغه په سنتو کولو نه دے لیدلے. کهٔ چرے ماته د سنتو ادا کول وے. نو ما به فرضو لره پوره لوستلو. او الله تعالی فرمایلی دی. ستاسو دپاره د رسول الله ﷺ قدم ډیر ښهٔ دے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ الظُّهْرَ بِالْمَدِينَةِ أَرْبَعًا وَصَلَّى الْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ

انس بن مالک ؓ ویلی دی. چه رسول الله ﷺ په مدینه کښې د ماسپخین خلور رکعته ادا کړل او په ذُوالحُلَیفَه کښې ئے د مازیګر دوه رکعته[1].

عَنْ يَحْيَى بْنِ يَزِيدَ الْهُنَائِيِّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنْ قَصْرِ الصَّلَاةِ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا خَرَجَ مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَمْيَالٍ أَوْ ثَلَاثَةِ فَرَاسِخَ شُعْبَةُ الشَّاكُّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ

یحیٰی بن یزید ویلی دی چه ما د انس بن مالک ؓ نه د قصر د مانځهٔ د حال تپوس اوکړو. نو هغوی اووے چه کله به رسول الله ﷺ درے میله یا درے فرسخ وتلو. شعبه ته په دے کښې شک دے نو هغهٔ به دوه رکعته کولو[2].

---

[1]: ذُوالحُلَیفه د مدینے نه شپږ میله لرے ده. او بعضو ویلی دی. چه اووهٔ میله ده. او د اهل ظاهر دغه مذهب دے. چه سفر خواه کهٔ وړوکے وی خواه کهٔ لوئے وی قصر جائز دے. او د جمهورو مذهب دادے چه د کومے پورې د دوو منزلو سفر نهٔ وی. قصر رواه نهٔ دے. او د امام ابوحنیفه رحمه الله او د یو جماعت مذهب دادے چه د دریوو منزلو سفر ضروری دے. او هغوی په آثار صحابه رضی الله عنهم باندے اعتماد کړے دے. او جمهورو وغیرو ددے حدیث جواب اهل ظاهرو لره داسے ورکړے دے چه ذوالحلیفه ته کله هغه تشریف راوړو نو د حج اراده وه. عرض دا چه هغه منتهائے سفر نهٔ وو. بلکه د هغهٔ اراده د مکے وه. او شروع کیږی قصر کله چه انسان یعنی مسافر د خپل ښهر د کورونو نه بهر شی. او د آبادئ د حد نه اوځی. یا خاوندان د خیمے د خپلو خیمو نه بهر شی. مګر په یو ضعیف روایت کښې د امام مالک رحمه الله نه مروی دے چه د کومے پورې درے میله نهٔ وی تلے قصر روا نهٔ دے. او د عطاء رحمه الله نه او د یو جماعت د ملګرو د ابن مسعود رضی الله عنه نه مروی دے. چه کله اراده د سفر وی نو د ښهر نه د وتلو نه مخکښې هم قصر روا دے. او د مجاهد مذهب دادے چه په کومه ورځ اوځی د هغه ورځے شپه چه د کومے پورے راغلے نهٔ وی د هغے پورے قصر روا نهٔ دے. مګر دا ټول روایتونه د سلفو او خلفو د اتفاق نه خلاف دی. صحیح دغه ده چه روستو د خروج نه قصر روا دے. او د سفر څهٔ حد په روایت صحیح د شارع نه مروی نهٔ دے. او د ظاهریو د مذهب مؤید روایات معلومیږی.

[2]: **د میل او فرسخ او د ګز د مقدار تحقیق:**

میل د اوښ خلور زره قدمونه دی. او صاحب برهان لیکلی دی چه میل خلور زره ګزه دے. او هر ګز د شپږو موټو دے. او صاحب سراج لیکلی دی چه میل خلور زره ګزه دے. او هر ګز خلیریشت ګوتے دے. او فرسخ دریوو میلو ته ویلے کیږی. او مراد د انس رضی الله عنه دادے چه کله د کلی نه درے میله لرے لاړ شي نو بیا به قصر کوی. مګر دا روایات د قرآن خلاف دی. ځکه چه

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ شُرَحْبِيلَ بْنِ السِّمْطِ إِلَى قَرْيَةٍ عَلَى رَأْسِ سَبْعَةَ عَشَرَ أَوْ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ مِيلًا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ فَقَالَ رَأَيْتُ عُمَرَ صَلَّى بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ فَقَالَ إِنَّمَا أَفْعَلُ كَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ

جُبیر ویلی دی چه زهٔ د شرحبیل بن سمط سره یو کلی ته لاړم. چه هغه اولس یا اتلس میله لرے وو. نو هغوی دوه رکعته اوکړو. نو ما هغوی ته وینا اوکړه. نو هغوی اووے چه ما حضرت عمرؓ لره لیدلے دے چه هغوی په ذوالحلیفه کښې دوه رکعته اوکړو. او ما هغهٔ ته وینا اوکړه. نو هغوی اووے زهٔ هغه شان کوم څنګه چه ما رسول اللهﷺ لره په کولو لیدلے دے.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ عَنِ ابْنِ السِّمْطِ وَلَمْ يُسَمِّ شُرَحْبِيلَ وَقَالَ إِنَّهُ أَتَى أَرْضًا يُقَالُ لَهَا دُومِينَ مِنْ حِمْصَ عَلَى رَأْسِ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ مِيلًا

شعبه په دغه اسناد سره روایت کړے دے او ویلی دی چه روایت کړے دے د ابن سمط نه او د شرحبیل نوم ئے نهٔ دے اخستے. او ویلی دی چه هغه یوے زمکے ته لاړو. چه هغے ته دومین ویلے شی. او هغه د حمص نه اتلس میله لرے دے (مراد دا دے چه هلته ئے قصر اوکړو)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى رَجَعَ قُلْتُ كَمْ أَقَامَ بِمَكَّةَ قَالَ عَشْرًا

انسؓ ویلی دی چه مونږ اوو تول د رسول اللهﷺ سره د مدینے نه مکے مکرّمے ته. او هغه به دوه دوه رکعته مونځ کولو تر دے پورے چه واپس شو. ما اووے په مکه کښې څومره پاتے شو؟ هغهٔ اووے. لس ورځے[1].

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ صَلَّى صَلَاةَ الْمُسَافِرِ بِمِنًى وَغَيْرِهِ رَكْعَتَيْنِ وَأَبُو بَكْرٍ

سالم بن عبد الله د خپل پلار عبد اللهؓ نه روایت کوی. چه رسول اللهﷺ د مسافرئ مونځ په منٰی وغیره کښې دوه رکعته کولو. او ابوبکرؓ او عمرؓ او عثمانؓ ټولو دوه رکعتونه ادا کول. او عثمانؓ د

منطوق قران دا دے چه څوک مسافر شو قصر به کوی. او کله چه بنده د کلی نه بهر شو مسافر ورته ویلے شی. خواه کهٔ یو میل هم تلے نهٔ وی. پس دهٔ ته قصر روا شوے دے.

[1] په دۀ ے حدیث کښې د حجّةُ الوداع ذکر دے. او هغه په څلورم تاریخ په مکه کښې داخل شو. او په پنځم، شپږم، اووم هلته پاتے شو او په اتم تاریخ منٰی ته روان شو. او په نهم باندے عرفات ته اورسیدهٔ او په لسم تاریخ بیا منٰی ته واپس راغے او په یولسم دولسم تاریخ هلته پاتے شو او په دیارلسم تاریخ مکے مکرمے ته لاړهٔ. او په څوارلسم تاریخ مدینے ته روان شو. غرض دا چه په مکه کښې او د هغے په خواؤ شا کښې ټول لس ورځے قیام اوشو. او خاص په مکه کښې درے ورځے. ددے نه ثابته شوه چه کله د څلورو ورځو نه کم مسافر چرته قیام کوی نو قصر دِ ادا کوی. ځکه چه هر کله د وتلو او داخلیدو ورځ شمار نهٔ شی نو د مکے د اقامت موده دغه درے ورځے جوړیږی. او د امام شافعی رحمه الله او د جمهورو دغه مذهب دے.

وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ رَكْعَتَيْنِ صَدْرًا مِنْ خِلَافَتِهِ ثُمَّ أَتَمَّهَا أَرْبَعًا

خپل خلافت په شروع کښې دغه دوه رکعتونه کول. بیائے پوره څلور رکعته ادا کول شروع کړل.

عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ وَأَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ وَعُمَرُ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ وَعُثْمَانُ صَدْرًا مِنْ خِلَافَتِهِ ثُمَّ إِنَّ عُثْمَانَ صَلَّى بَعْدُ أَرْبَعًا فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا صَلَّى مَعَ الْإِمَامِ صَلَّى أَرْبَعًا وَإِذَا صَلَّاهَا وَحْدَهُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ

نافع د عبد الله بن عمرؓ نه روایت کوی. چه هغوی ویلی دی. رسول اللهﷺ په منی کښې به دوه رکعتونه کول. او ابوبکرؓ د هغهٔ نه پس. او عمرؓ د ابوبکرؓ نه پس او عثمانؓ د خپل خلافت په اولنی دور کښې. بیا عثمانؓ څلور رکعته کول شروع کړل. نو ابن عمرؓ چه به کله د امام سره کول نو څلور به ئے کول او کله چه به ئے یواځی مونځ کولو نو دوه رکعتونه به ئے کول.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى صَلَاةَ الْمُسَافِرِ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ ثَمَانِيَ سِنِينَ أَوْ قَالَ سِتَّ سِنِينَ قَالَ حَفْصٌ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُصَلِّي بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَأْتِي فِرَاشَهُ فَقُلْتُ أَيْ عَمِّ لَوْ صَلَّيْتَ بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ قَالَ لَوْ فَعَلْتُ لَأَتْمَمْتُ الصَّلَاةَ

عبد الله بن عمرؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ په منی کښې د مسافر مونځ لره اوکړو. او ابوبکرؓ او عمرؓ او عثمانؓ هم د اتو کالو پورے. یائے اووے چه د شپږو کالو پورے. حفص ویلی دی چه ابن عمر په منی کښې به دوه رکعتونه کول او بیا به د خپل آرام ځائے له راتلو. نو ما ووے چه اے ځما تره! کاش چه تا د فرضو نه پس دوه رکعته نور کولے (یعنی د سنتو) هغوی اوفرمایل. کهٔ چرے مالره داسے کول وے نو ما به خپل فرض پوره کول.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ يَقُولُ صَلَّى بِنَا عُثْمَانُ بِمِنًى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فَقِيلَ ذٰلِكَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ فَاسْتَرْجَعَ ثُمَّ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ فَلَيْتَ حَظِّي مِنْ

عبد الرحمٰن ویلی دی چه زمونږ سره عثمانؓ په منی کښې څلور رکعته مونځ اوکړو. او د هغے ذکر چا عبد الله ځوی د مسعودؓ ته اوکړو. نو هغوی اووے. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ بیائے اووے. ما د رسول اللهﷺ سره په منی کښې دوه رکعته کړی دی او د ابوبکر سره م دوه رکعته په منی کښې کړی دی او کړی م دی د عمر بن خطابؓ سره په منی کښې دوه رکعته. نو زهٔ دا آرزو کوم چه د څلورو نه ئے

أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ رَكْعَتَانِ مُتَقَبَّلَتَانِ

دغه دوه رکعته مقبول کولے نوغوره به وه[1]

عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى آمَنَ مَاكَانَ النَّاسَ وَأَكْثَرَهُ رَكْعَتَيْنِ

حارثه بن وهب ویلی دی چه کړی دی ما د رسول الله ﷺ سره په منی کښې دوه رکعتونه . حالانکه خلق په آرام سره وو. او زیات وو (یعنی څه یره نه وه)

عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ رَضِيَ اللهُ عنه قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِمِنًى وَالنَّاسُ أَكْثَرُ مَا كَانُوا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ

حارثه بن وهب خزاغی ویلی ی د چه ما په رسول الله ﷺ پسے په منی کښې دوه رکعتونه اوکړل او د هغهٔ سره خلق ډیر وو. بیا هغهٔ په حجة الوداع کښې هم دوه رکعتونه اوکړل.

قَالَ مُسْلِمٌ حَارِثَةُ بْنُ وَهْبٍ الْخُزَاعِيُّ هُوَ أَخُو عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ لِأُمِّهِ

مسلم ویلی دی حارثه بن وهب خزاعی د عبید الله بن عمر بن خطاب رور دے. او د عبیدالله او حارثه (دواړو) یوه مور وه.

بَابُ الصَّلَاةِ فِي الرِّحَالِ فِي الْمَطَرِ

باب: په باران کښې په کورونو کښې د مونځ کولو بیان

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ فَقَالَ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ بَارِدَةٌ

نافع ویلی دی چه ابن عمرؓ یوه شپه د مانځهٔ آذان اوکړو. چه هغه شپه د یخنۍ او د تیرے شپه وه. نو اوئے ویل چه په خپلو خپلو کورونو کښې مونځ ادا کړئ. بیائے اووے چه رسول الله ﷺ به مؤذن ته حکم ورکولو. چه کله شپه د یخنۍ او باران وی نو د آذان نه پس په

---

[1] : امام نووی رحمه الله ویلی دی چه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه لره دا مخالفت د حضرت عثمان رضی الله عنه بد معلوم شو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره. ددے خبرے باوجود چه د ابن مسعود په نز پوره کول روا دی. مگر مخالفت د حضور صلی الله علیه وسلم او د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما خوښ نه شوے. (دا د اردو کتاب تصنیف د مترجم خپله رائے ده چه د جمهور علماؤ خلاف ده. عارف)

د اردو کتاب مترجم: ددے روایت نه معلومه شوه. چه صحابه کرامو د خلفائے راشدینو فعل لره سنت نه گڼړلو گنی د خلفاؤ په فعل باندے به اعتراض نهٔ کیدهٔ. حالانکه په کثرت د صحابو داسے أمور مذکر دی. او دغه امر صحیح دے. ځکه چه د افعالو مستون کیدل د رسول الله صلی الله علیه وسلم خاصه ده. او هغه چه کوم په حدیث کښې مذکور دی. عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ. دلته د سنت خلفاء نه هغه سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد دی. چه څنګه خلفاء راشدین د هغې پابند وو. او پابند به وی. دغه شان تاسو هم پابند اوسیږئ. نه دا چه د هغوی فعل دِ په مونږ باندے سنت راشی. او د صحابو انکار په داسے امورو باندے کوم چه د خلفائے راشدینو نه شوی وی. څهٔ معنی نهٔ لرلهٔ

ذَاتُ مَطَرٍ يَقُولُ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ

چغه سره وايه چه په کورونو کښې مونځ ادا کړئ.[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ نَادَى بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ وَمَطَرٍ فَقَالَ فِي آخِرِ نِدَائِهِ أَلَا صَلُّوا فِي رِحَالِكُمْ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ بَارِدَةٌ أَوْ ذَاتُ مَطَرٍ فِي السَّفَرِ أَنْ يَقُولَ أَلَا صَلُّوا فِي رِحَالِكُمْ

عبد الله بن عمر رضی الله عنه د مانځۀ آذان اوکړو. په داسې شپه کښې چه په هغې کښې يخنی، يخه هوا ، او باران وو. بيا د آذان نه په اخر کښې ئې اوويل چه په خپلو کورونو کښې مونځ لره ادا کړئ. په خپلو کورونو کښې مونځ ادا کړئ. بيائې اووے چه رسول الله ﷺ به هميشه مؤذن ته حکم کولو چه کله د يخنئ او د باران شپه وی په سفر کښې نو خلقو ته آواز کوه. چه په خپلو خيمو کښې مونځ ادا کوئ.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَمُطِرْنَا فَقَالَ لِيُصَلِّ مَنْ شَاءَ مِنْكُمْ فِي رَحْلِهِ

جابر رضی الله عنه وئيلی دی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کښې وو. او باران شروع شو. نو هغۀ اوفرمايل چه د چا زړۀ چه غواړی. هغه د په خپله بستره باندے مونځ ادا کړی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ لِمُؤَذِّنِهِ فِي يَوْمٍ مَطِيرٍ إِذَا قُلْتَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ فَلَا تَقُلْ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ قُلْ صَلُّوا فِي بُيُوتِكُمْ قَالَ فَكَأَنَّ النَّاسَ اسْتَنْكَرُوا ذَاكَ فَقَالَ أَتَعْجَبُونَ مِنْ ذَا قَدْ فَعَلَ ذَا مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي إِنَّ الْجُمُعَةَ عَزْمَةٌ وَإِنِّي كَرِهْتُ أَنْ أُخْرِجَكُمْ فَتَمْشُوا فِي الطِّينِ وَالدَّحْضِ

عبد الله بن عباس رضی الله عنه خپل مؤذن ته اووے. په کومه ورځ چه باران وو. چه کله ته شهادتين لولے. نو حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة مۀ وايه. بلکه وايه په خپلو کورونو کښې مونځ لولئی. نو خلقو ته دا خبره نوے معلومه شوه . هغوی اووے چه تۀ په دے خبره حيران شوے. دا خو هغه چا کړی دی چه زمانه غوره وو (يعنی رسول الله ﷺ) جمعه اګر چه واجب ده. مګر دا ماته ښۀ نۀ معلوميږی چه تاسو له د تکليف درکړم. او تاسو په ختو او خوئيدو کښې را روان يئ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ أَذَّنَ مُؤَذِّنُ ابْنِ عَبَّاسٍ يَوْمَ جُمُعَةٍ فِي يَوْمٍ مَطِيرٍ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَقَالَ وَكَرِهْتُ أَنْ تَمْشُوا فِي الدَّحْضِ وَالزَّلَلِ

عبد الله بن حارث وئيلی دی چه د جمعے په ورځ په کومه چه باران وو. د ابن عباس رضی الله عنه مؤذن آذان ورکړو. بيائې د ابن عُلَيّه په شان حديث ذکر کړو. او ابن عباس رضی الله عنه وئيلی دی. چه ماته غوره نۀ ښکاری چه تاسو په ختو او خوئينه زمکه باندے راشئ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ

عبد الله بن حارث وئيلی دی چه ابن عباس رضی الله عنه خپل مؤذن ته حکم

[1] د دے روايت نه معلومه شوه. چه د عذر په سبب سره جمع پريښودل روا دی. او کله چه عذر نۀ وی نو پريخودل د جمع روا نۀ دی.

أَمَرَ مُؤَذِّنَهُ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ فِي يَوْمٍ مَطِيرٍ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ وَذَكَرَ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ فَعَلَهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ورکړو. لکه چه په حدیث معمر کښې راغلی دی د جمعې په ورځ د باران په ورځ د نورو راویانو د حدیث په شان او د معمر په روایت کښې ذکر کړی دی چه ابن عباسؓ اووے. چه کړی دی دا دوی چه خما نه غوره دی یعنی نبی ﷺ[1].

بَاب جَوَازِ صَلَاةِ النَّافِلَةِ عَلَى الدَّابَّةِ فِي السَّفَرِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ

باب: په سفر کښې په سورلئ باندے د نفل کولو بیان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي سُبْحَتَهُ حَيْثُمَا تَوَجَّهَتْ بِهِ نَاقَتُهُ

عبد الله ابن عمرؓ وایلی دی چه رسول اللهﷺ په اوښه باندے مونځ کولو. هغے چه به هر خواته مخ کولو[2].

---

[1] ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه د باران په وجه د جمعے مونځ معاف کیږی. او د شافعیو او د فقهاؤ هم دا مذهب دے.

مسلم ویلی دی او بیان کړے دے مونږ ته دا حدیث عبد بن حمید د هغهٔ نه احمد بن اسحٰق د هغهٔ نه ایوب او د هغهٔ نه عبد الله بن حارث. ویلی دی وهیب چه ما دا حدیث نهٔ دے اوریدلے. ویلی دی چه حکم اوکړو ابن عباس رضی الله عنه خپل مؤذن ته د جمعے په ورځ چه باران وو په شان حدیث او د راویانو (یعنی د چا روایتونه چه پورته ذکر شو)

[2] ددے روایت او د روایات باب نه ثابته شوه. چه نوافل په سرلئ باندے خواه کهٔ اوښ وی خواه کهٔ اس تټو وی یا خر وی په سفر کښې په ټولو روا دے. او په دے د ټولو مسلمانانو اجماع ده. او صحیح داده چه خواه کهٔ سفر اوږد وی یا لنډ په ټولو خایونو کښې نفل په سورلئ باندے روا دی. د جمهورو او د شافیو دغه مذهب دے. او د امام شافعی رحمه الله یو قول غریب دا هم دے. چه په کوم سفر کښې قصر روا دے په هغے کښې په سورلئ مونځ روا دے. گنی نو نهٔ دے.او د ابوسعید اصطخری وینا ده چه په ښهر کښې هم په سورلئ نفل روا دی. او دغه د انس بن مالک رحمه الله نه او د ابوحنیفه رحمه الله د شاګرد ابویوسف رحمه الله نه مروی دے. غرض ددے ټولو اقوالو حاصل دادے چه فرض په سورلئ روا نهٔ دی. د کومے پورې چه د سورلئ نه کوز نهٔ شی. او د قبلے په طرف ئے ادا کړی. دا یوه اجماعی خبره ده مګر د سختے یرے په وخت کهٔ چری د قبلے په طرف مخ نهٔ کړے شی. او قیام او رکوع او سجده په داسے سورلئ باندے وی. چه په هغی اودریدے نهٔ شی. نو فریضه هم روا ده. مثلاً داسے سورلئ وی چه په هغے باندے کجاوه وی. او دا صحیح مذهب دے د شافعیو. بیا کهٔ چرے هغه سورلئ روانه وی. نو صحیح روایت د شافعی رحمه الله دادے چه فرض په هغے روا نهٔ دی. او یو قول دا هم دے چه روا دی. لکه چه په کشتئ کښې مونځ روا دے. په اتفاق سره چه په هغے بادنے یو والے کړے دے ټولو فقهاؤ. او نووی رحمه الله ویلی دی. چه کهٔ چرے د داسے سورو ملګرو سره وی چه کهٔ کوزیږی نو د هغوی د مګرتیا نهٔ پاتے کیږی. او دهٔ ته ضرر رسیږی چه کهٔ کوزیږی نو زمونږ ملګرو ویلی دی چه فرض دِ په سورلئ اوکړی حسب امکان یعنی چه په کوم شان ممکن وی. او راګرځول د هغے لازم خکه دی چه دا عذر نادر دے.

«د اردو کتاب» مترجم وائی چه ریل هم د کشتئ په شان دے. او چونکه اوس زمونږ په زمانه کښې ډیر رائج شوے دے. او په کوزیدو او مونځ ادا کولو کښې ډیر لوئے لوئے ضرر واقع کیږی. پس کهٔ چرے په دغے کښې مونځ ادا کړی نو یقین دے چه روا شی. او

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ بِهِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په خپله سورلئ باندے مونځ کولو هغے چه کوم طرفته مخ کوو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَهُوَ مُقْبِلٌ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ كَانَ وَجْهُهُ قَالَ وَفِيهِ نَزَلَتْ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ

عبد الله بن عمر ؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ به په سورلئ مونځ کولو. او هغه به د مکے نه مدینے ته راتلو کوم طرفته چه به د هغهٔ مخ وو. ابن عمر ؓ ویلی دی چه په دغه موقع کښ نازل شو دا ایت چه الله تعالی فرمائی چه تهٔ کوم طرفته مخ کوے هغه طرفته مخ دے د الله[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي عَلَى حِمَارٍ وَهُوَ مُوَجِّهٌ إِلَى خَيْبَرَ

عبدالله بن عمر ؓ ویلی دی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدو چه هغهٔ په خر دپاسه مونځ کولو. او د هغهٔ مخ خیبر طرفته وو.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّهُ قَالَ كُنْتُ أَسِيرُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ بِطَرِيقِ مَكَّةَ قَالَ سَعِيدٌ فَلَمَّا خَشِيتُ الصُّبْحَ نَزَلْتُ فَأَوْتَرْتُ ثُمَّ أَدْرَكْتُهُ فَقَالَ لِي ابْنُ عُمَرَ أَيْنَ كُنْتَ فَقُلْتُ لَهُ خَشِيتُ الْفَجْرَ فَنَزَلْتُ فَأَوْتَرْتُ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ أَلَيْسَ لَكَ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسْوَةٌ فَقُلْتُ بَلَى وَاللهِ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوتِرُ عَلَى الْبَعِيرِ

سعید بن یسار ویلی دی چه زهٔ د عبد الله بن عمر ؓ سره د مکے په لاره باندے روان وم. بیا چه کله د سحر کیدو خیال راغے. نو زهٔ کوز شوم وتر مے اوکړلو بیا چه د هغهٔ سره میلاو شوم نو ابن عمر ؓ اووے چه تهٔ چرته تلے وے. ما اووے چه د سحر په خیال سره کوز شوم او وتر م اوکړو. ماته عبد الله ؓ اووے چه ستا دپاره د رسول الله ﷺ طریقه ښه نهٔ وه. ما اووے ولے نه په خدائے م د قسم وی. بیا هغوی اووے. چه رسول الله ﷺ به په اوښ دپاسه وتر کولو[2].

قبلے ته مخ کول هم کهٔ چرے ممکن وی نو د مانځهٔ د شروع کولو په وخت دِ قبلے ته مخ کوی. او اوس چونکه دا عذر نادر نهٔ دے پاتے. بلکه اکثرو مسافرو ته دے ضرورت راځی. لهٰذا د هغے راګرځول هم ضروری نهٔ دی. ځکه چه زمونږ په دین کښ حرج نشته او کوم ځائے چه اوبهٔ موجود نهٔ وی هلته دِ په تیمم سره ادا کوی. هیڅ کله دِ قضاء کوی نه.

[1] یعنی ددی ایت نه هم داسے د مانځهٔ جائز کیدل ثابتیږی. او ددے ایت نه بعضے جاهلان جهیمیه استدلال کوی چه دے امر باندے چه هر ځائے الله تعالی په ذات سره موجود دے. حالانکه دا د هغهٔ سفاهت دے ځکه چه پوره ایت داسے وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ یعنی مشرق او مغرب د الله دے. کوم طرفته چه تهٔ مخ کوے هغه طرف ته د الله مخ دے. پس په دے ایت کښ مشرق او مغرب دواړو طرفونه چه کوم ذکر شوی دی هغه خاص په آسمان دی نهٔ په زمکه. ددے نه دا ګنړل چه الله په زمکه باندے په خپل ذات سره موجود دے. داسے خبره ده لکه زمکے لره آسمان یا آسمان لره زمکه ګنړل.

[2] ددے روایت نه معلومه شوه. چه لکه څنګه چه د نورو نفلونو حکم دے. دغه شان د وترو هم حکم دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُمَا تَوَجَّهَتْ بِهِ قَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ دِينَارٍ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ

عبد الله بن عمر وېلي دي چه رسول الله ﷺ به پخپله سورلۍ باندے مونځ لره كولو. كوم خوا چه به د هغے مخ وو. عبد الله بن دينار اووے. چه ابن عمر به هم دغه شان كولو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُوتِرُ عَلَى رَاحِلَتِهِ

د عمر خوئ عبدالله وېلي دي چه رسول الله ﷺ به په خپله سورلۍ باندے وتر كولو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُسَبِّحُ عَلَى الرَّاحِلَةِ قِبَلَ أَيِّ وَجْهٍ تَوَجَّهَ وَيُوتِرُ عَلَيْهَا غَيْرَ أَنَّهُ لَا يُصَلِّي عَلَيْهَا الْمَكْتُوبَةَ

عبد الله بن عمر وېلي دي چه رسول الله ﷺ په سورلۍ باندي نفل كول. كوم طرفته چه به هغې مخ كولو. او په هغې باندے به ئے وتر كول. مګر فرض به ئے په هغې باندے نه كولو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي السُّبْحَةَ بِاللَّيْلِ فِي السَّفَرِ عَلَى ظَهْرِ رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ

عبد الله بن عامر بن ربيعه ته د هغهٔ پلار خبر وركړے دے چه هغوی ليدلے رسول الله ﷺ لره د شپے چه په خپله سورلۍ باندے ئے نفل كول. كوم طرفته چه به د هغے مخ وو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ تَلَقَّيْنَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حِينَ قَدِمَ الشَّامَ فَتَلَقَّيْنَاهُ بِعَيْنِ التَّمْرِ فَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي عَلَى حِمَارٍ وَوَجْهُهُ ذٰلِكَ الْجَانِبَ وَأَوْمَأَ هَمَّامٌ عَنْ يَسَارِ الْقِبْلَةِ فَقُلْتُ لَهُ رَأَيْتُكَ تُصَلِّي لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ قَالَ لَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ لَمْ أَفْعَلْهُ

د سيرين خوئ انس وېلي دي چه مونږ د مالك د خوئ انس سره ميلاو شو كله چه هغه د شام نه راغے. نو مونږ په عين التمر كښې ملاقات اوكړو (عين التمر د يو ځائے نوم دے) او هغه مونږ اوليدو چه په خپل خر د پاسه ئے مونځ كولو. او مخ د هغهٔ په دے طرف وو. او همّام د قبلے په كس طرف اشاره اوكړه نو ما هغهٔ ته اووے. تهٔ د قبلے نه سوا بل طرفته مونځ كوے. هغوی اووے. چه ما كچرے رسول الله ﷺ په داسے كولو ليدلے نهٔ وی نو ما به هيڅ كله داسے نهٔ وو كړی.

بَابُ جَوَازِ الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ

باب: په سفر كښې د دوه مونځونو د جمع كولو بيان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَجِلَ بِهِ السَّيْرُ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ

عبد الله بن عمر ويلي دي چه رسول الله ﷺ لره به كله چه په جلدئ سره تلل وو نو مونځ د ماښام او د ماسخوتن به ئے يو ځائے كول[1].

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بَعْدَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ وَيَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ

نافع ويلي دي چه عبد الله بن عمر ته چه به كله په جلتئ سره تلل وو. نو هغهٔ به د ماښام او د ماسختن مونځ په يو ځائے كولو روستو د ډيدو د شفق نه او ويل به ئے چه رسول الله ﷺ چه به كله په جلتئ سره تلل غوښتل نو د ماښام او ماسختن مونځ به ئے يو ځائے ادا كولو.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ

سالم د خپل پلار نه روايت كوي. چه هغوی ليدلے رسول الله ﷺ ته چه به كله په جلتئ سره تلل وو. نو هغهٔ به د ماښام او د ماسختن مونځ يو ځائے كولو.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ أَبَاهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ إِذَا أَعْجَلَهُ السَّيْرُ فِي السَّفَرِ يُؤَخِّرُ صَلَاةَ الْمَغْرِبِ حَتَّى يَجْمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ

سالم د خپل پلار نه اوريدلی دی چه هغوی رسول الله ﷺ لره ليدلے وو . چه كله به هغهٔ ته په جلتئ سره تلل وو په سفر كښ نو هغهٔ به ماښام ناوخته كړو. او د ماسختن سره به ئے اوكړو[2].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ إِلَى وَقْتِ الْعَصْرِ

انس ويلي دی. چه د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو. چه كله به د نمر د زوال نه مخكښ په صف باندے وتلو. نو ما سپخين به ئے ناوخته كړو .د مازيگر دوخته پورے. بيابه كوز شو دواړه به ئے يو

[1]: نووی رحمه الله ويلی دی چه د امام شافعی رحمه الله او اكثرو قول دے. چه په سفر كښ د ماسپخين او مازيگر جمع كول روا دی. كهٔ غواړی د مازيگر په وخت دِ ئے جمع كړی او كهٔ غواړی د ماسپخين په وخت . او دغه شان د ماښام او ماسختن يو ځائے جمع كول روادی. او په وړوكی سفر كښ د امام شافعیؒ دوه قولو نه دی. او څوك چه لا په قيام گاه كښ دے. هغهٔ لره غوره ده. چه جمع تقديم اوكړی. يعنی ماسپخين او مازيگر لره د ماسپخين په وخت ادا كړی او روان شی. او څوك چه په لاره كښ وی. او د يو مانځهٔ وخت راشی نو د دويم مانځهٔ د وخته پورے دِ لاړ شی. او ددغه دويم مانځهٔ په وخت دِ دواړه مونځونه يو ځائے اوكړی. مثلاً ماښام به د ماسختن سره ادا كړی . او دا جمع تاخير ده. او په باران كښ جمع تقديم روا ده په خلاف د جمع تاخير . او دغه مذهب دے د جمهورو. په ماسخين او مازيگر او ماښام او ماسختن كښ او د امام مالك رحمه الله په نزد د باران په سبب سره په ماښام او ماسختن كښ جمع روا ده. او د ناجوړه دپاره د امام احمد رحمه الله په نزد . او د شافيو د يو جماعت په نزد صحيحه ده. او دغه مذهب قوی دے. او د حنفيو په نزد د عرفات نه سوا بل ځائے چرته جمع صحيح نهٔ ده.

[2] دا جمع تاخير شوه.

ثُمَّ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا فَإِنْ زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ رَكِبَ

خائے اوکړل او که چرے د سفر نه مخکښې به د نمر زوال کیدۀ. نو د مازیګر مونځ کولو نه پس په سوریدۀ.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتَّى يَدْخُلَ أَوَّلُ وَقْتِ الْعَصْرِ ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا

انس ویلی دی چه د نبی کریم عادت مبارک دا وو. چه کله به ئے په سفر کښې د مونځونو د جمع کولو اراده کوله. نو په ماسپخین کښې به دومره حصاریدۀ چه د مازیګر وخت به راغے. نو بیا به ئے دواړه یو خائے کول.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَجِلَ عَلَيْهِ السَّفَرُ يُؤَخِّرُ الظُّهْرَ إِلَى أَوَّلِ وَقْتِ الْعَصْرِ فَيَجْمَعُ بَيْنَهُمَا وَيُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ حَتَّى يَجْمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَاءِ حِينَ يَغِيبُ الشَّفَقُ

انس ویلی دی چه نبی کریم ﷺ ته چه به کله په سفر کښې جلتی وه نو به ماسپخین کښې به دومره حصار شو چه د مازیګر اول وخت به راغے. نو بیا به ئے دواړه یو خائے اوکړل. او ماښام به ئے دومره ناوخت کړه. چه کله به شفق غائب شو نو هغے لره به ئے د ماسختن سره یو خائے اوکړو[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ جَمِيعًا فِي غَيْرِ خَوْفٍ وَلَا سَفَرٍ

ابن عباس ویلی دی چه رسول الله ﷺ ماسپخین او مازیګر یو خائے اوکړو او ماښام او ماسختن ئے یو خائے اوکړو بغیر د څۀ یرے او بغیر د سفر نه[2].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا بِالْمَدِينَةِ فِي غَيْرِ خَوْفٍ وَلَا سَفَرٍ قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ فَسَأَلْتُ سَعِيدًا لِمَ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ كَمَا سَأَلْتَنِي فَقَالَ أَرَادَ أَنْ لَا يُحْرِجَ أَحَدًا مِنْ أُمَّتِهِ

عبدالله بن عباس ویلی دی چه رسول الله ﷺ د ماسپخین او مازیګر مونځ په مدینه منوره کښې بغیر د څۀ یرے او سفر نه یو خائے اوکړو. ابو الزبیر وائی چه ما د سعید نه تپوس اوکړو چه هغۀ داسے ولے اوکړو؟ هغوی اووے. ما د عبد الله ابن عباس نه ددے تپوس کړے وو. لکه چه تا څما نه تپوس اوکړو. هغوی اووے. چه حضرت داغوښتل. چه د هغۀ په امت کښې چا ته تکلیف نۀ وی.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ بَيْنَ

د جُبیر خوئی سعید وائی. چه ابن عباس ویلی دی چه رسول الله ﷺ مونځونو لره په یو سفر کښې جمع کړل. چه په هغے کښې

[1] شفق هغه سرخی ده چه هغه د نمر د پریوتو نه پس په آسمان باندے ظاهریږی. د هغے د غائب کیدو سره د ماسختن وخت راځی او د ماښام وخت ختمیږی.

[2] ددے مفصل بیان به د باب په آخر کښې راشی. انشاء الله تعالی

الصَّلَاةِ فِي سَفْرَةٍ سَافَرَهَا فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ فَجَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ قَالَ سَعِيدٌ فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَا حَمَلَهُ عَلَى ذٰلِكَ قَالَ أَرَادَ أَنْ لَا يُحْرِجَ أُمَّتَهُ

هغهٔ د تبوک غزا له تلے وو. غرض يو ځائے ئے اوکړو ماسپخين او مازيګر لره . او ماښام او ماسختن لره سعيد وائی. چه ما د ابن عباسؓ نه تپوس اوکړو. چه هغویؓ داسے ولے اوکړل؟ هغوی اووے . ددے دپاره چه د هغهٔ امت ته تکليف نهٔ وی.

عَنْ مُعَاذٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ فَكَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ جَمِيعًا

معاذؓ وائی دی چه مونږ د رسول اللهﷺ سره د تبوک غزا له لاړو. نو هغویؓ ماسپخين او مازيګر ميلاؤ کړو. او ماښام او ماسختن ئے ميلاو کړو.

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ جَمَعَ رَسُولُ اللهِﷺ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَبَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ قَالَ فَقُلْتُ مَا حَمَلَهُ عَلَى ذٰلِكَ قَالَ فَقَالَ أَرَادَ أَنْ لَا يُحْرِجَ أُمَّتَهُ

معاذ بن جبلؓ وائی دی چه رسول اللهﷺ په غزوهٔ تبوس کښں ماسپخين او مازيګر لره او ماښام او ماسختن لره جمع کړل ما اووے (دا قول دے د عامر بن واثله) هغهٔ داسے ولے اوکړل؟ معاذؓ اووے. چه د هغهٔ اراده وه چه امت ته م تکليف نهٔ وی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَمَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِالْمَدِينَةِ فِي غَيْرِ خَوْفٍ وَلَا مَطَرٍ فِي حَدِيثِ وَكِيعٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ لِمَ فَعَلَ ذٰلِكَ قَالَ كَيْ لَا يُحْرِجَ أُمَّتَهُ

ابن عباسؓ وائی دی چه رسول اللهﷺ ماسپخين او مازيګر لره او ماښام او ماسختن لره په مدينه کښں بغير د ځۀ يرے او باران نه جمع کړل. د وکيع په روايت کښں دی چه ما ابن عباسؓ ته اووے چه هغهؓ داسے ولے اوکړل؟ هغوی اووے ددے دپاره چه د هغهٔ په امت ګرانه نهٔ وی. او د ابی معاويهؓ په روايت کښں دی. چه ابن عباسؓ ته چا اووے. په کومه اراده سره هغهٔ داسے اوکړل؟ هغوی اووے. غوښتل ئے چه د هغهٔ امت ته تکليف نهٔ وی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيًا جَمِيعًا وَسَبْعًا جَمِيعًا قُلْتُ يَا أَبَا الشَّعْثَاءِ أَظُنُّهُ أَخَّرَ الظُّهْرَ وَعَجَّلَ الْعَصْرَ وَأَخَّرَ الْمَغْرِبَ وَعَجَّلَ الْعِشَاءَ قَالَ وَأَنَا

ابن عباسؓ وائی دی چه ما د رسول اللهﷺ سره مونځ کولو. اتهٔ رکعته ئے يو ځائے اوکړل (يعنی ماسپخين او مازيګر ئے يو ځائے کړل) او اووهٔ رکعته ئے جمع کړل (يعنی د ماښام او د اماسختن يو ځائے) ما اووے. اے ابوالشعثاء زهٔ ګمان کوم چه هغه په ماسپخين کښں تاخير اوکړو او مازيګر ئے په اول وخت باندے

أَظُنُّ ذَاكَ

اوکړو. او په ماښام کښې ئے تاخیر اوکړو او ماسختن ئے په اول وخت اوکړو. هغوی اووے. چه زۀ هم دغسې ګمان کوم.[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِالْمَدِينَةِ سَبْعًا وَثَمَانِيًا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ

ابن عباس ویلی دی چه رسول الله ﷺ مونځ ادا کړو په مدینه کښې اووۀ رکعته یوځائے. او اتۀ رکعته یوځائے ماسپخین او مازیګر ئے میلاو کړه. او ماښام او ماسختن ئے میلاو کړل.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ خَطَبَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمًا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَبَدَتِ النُّجُومُ وَجَعَلَ النَّاسُ يَقُولُونَ الصَّلَاةَ الصَّلَاةَ قَالَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ لَا يَفْتُرُ وَلَا يَنْثَنِي الصَّلَاةَ الصَّلَاةَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَتُعَلِّمُنِي بِالسُّنَّةِ لَا أُمَّ لَكَ ثُمَّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ شَقِيقٍ فَحَاكَ فِي صَدْرِي مِنْ ذَلِكَ شَيْءٌ فَأَتَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ فَسَأَلْتُهُ فَصَدَّقَ مَقَالَتَهُ

د شقیق خوئ عبد الله ویلی دی چه په مونږ کښې یوه ورځ ابن عباس وعظ کولو د مازیګر نه پس کله چه نمر پریوتو او ستوری ښکاره شو او خلقو وینا شروع کړه مونځ،مونځ. بیا یو سړے راغے د قبیله بن تمیم چه هغۀ نۀ قلاریدو خو برابر ئے ویل چه مونځ ، مونځ. بیا ابن عباس اووے. تۀ ما ته سنت ښائے ستا مور مره شه. بیاءے اووے ما رسول الله ﷺ لره لیدلے دے چه هغۀ جمع کړی وو ماسپخین او مازیګر لره او ماښام او ماسختن لره. عبد الله بن شقیق ویلی دی چه خما په زړۀ کښې خلش راغے نو زۀ ابوهریرة له لاړم او د هغۀ نه مے تپوس اوکړو. نو هغوی اووے د ابن عباس قول رښتیا دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ الصَّلَاةَ فَسَكَتَ ثُمَّ قَالَ الصَّلَاةَ فَسَكَتَ ثُمَّ قَالَ الصَّلَاةَ فَسَكَتَ ثُمَّ قَالَ لَا أُمَّ لَكَ أَتُعَلِّمُنَا بِالصَّلَاةِ وَكُنَّا نَجْمَعُ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ عَلَى

عبدالله بن شقیق عقیلی ویلی دی چه یو سړی ابن عباس ته اووے. چه مونځ اوکړه هغه غلے پاتے شو. بیائے اووے چه مونځ بیا هغه چپ پاتے شو. بیا هغۀ اووے چه مونځ. بیا هغه چپ پاتے شو. بیا هغۀ ته ابن عباس اووے. چه ستا مور مره شه تۀ مونږ ته مونځ ښائے

[1] دا د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دے. چه په سفر کښې یو مونځ د وخت په آخر کښې اوکړے او دویم مونځ د وخت په اول کښې اوکړے. دے ته جمع صوری وائی. (عارف)

عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې دوو مونځونو لره جمع کول[1].

[1] : د جمع صلوتين تحقيق :

نووي رحمه الله ويلي دي دا تول روايات صحيح دي او په مسلم کښې راغلي دي . او د علماؤ په دے کښې خوا (؟) تاويلونه او شو مذهبونه دي. او ترمذي د خپل کتاب په آخر کښې ويلي دي چه څما په دے کتاب کښې يو حديث داسے نۀ دے چه هغے لره تولو أمت پريخود ے وي مگر د ابن عباس حديث په مدينه کښې د دوو مونځونو د جمع کولو بغير د يرے او باران نه. او حديث د قتل د شرابو څکلو والا څوک چه په څلورم خل شراب اوڅکي. او د ترمذي دا قول کوم چه د شراب خمر په باب کښې دے ډير صحيح دے. چه د اجماع په مخ هغه منسوخ شوے دے. پاتے شو د ابن عباس رضي الله عنه دا حديث دے د عمل په پريخودو اجماع نۀ ده شوے.

د اردو کتاب مترجم وائي چه په حقيقت کښې هر کله د ابن عباس رضي الله عنه نه دا مروي شو د عبد الله ابن شقيق په روايت سره چه مونږ چه به د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې دوه مونځونو لره جمع کول. نو اوس دا څنګه ويلے ديدے شي چه دے عمل په پريخودو اجماع ده. او کوم څيز چه د هغۀ په بابرکته زمانه کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين معلوم ګرځيدلے وو هغے لره تولے زمانے په جمع څنګه پريخودلے شي.

اولنے تاويل : چا دا تاويل کړے دے چه هغۀ د باران په وجه سره جمع کړي وو. او دا تاويل د لويو متقدمينو نه مروي شوے دے مگر هغه ضعيف دے څکه چه په پورته روايتونو کښې بغير د يرے او باران ذکر راغلے دے.

دويم تاويل : او چا دا تاويل کړے دے چه دا واقعه په بدلي کښې شوے ده. چه هغۀ د ماسپخين مونځ ادا کړو. بيا بدلي بنکاره شوله. نو معلومه شوه چه د مازيګر وخت راغلے دي نو مازيګر ئے هم ادا کړو. او دا هم باطل دے اګر چه احتمال کيدے شي. چه دا امر په ماسپخين او مازيګر کښې وي. مګر په ماښام او ماسختن کښې نۀ شي کيدے.

فائده : دد ے د بطلان بله هم يوه وجه داده. چه ابن عباس رضي الله عنه چه کله د وعظ په ورځ ناوخته کړو هغه بدلي چرته وه. او کۀ چرے بدلي وے نو نور خلق کوم چه د مانځۀ تقاضا لرونکي وو هغوي ته وخت څنګه معلوم شو. دويم دا چه په دے کښې صفا ذکر دے چه ستوري را اوختل.

دريم تاويل : او چا دا تاويل کړے دے چه مانځۀ لره داسے په آخر وخت ئے اولوستو چه کله د هغے نه فارغ شو نو د دويم مونځ وخت راغے او دا دواړه مونځونه په ظاهر کښې جمع معلوم شو او په حقيقت کښې دواړه په يو وخت کښې نۀ وو.

څلورم تاويل : او چا دا تاويل کړے دي چه د هغۀ دا فعل د مرض يا د بل څۀ عذر په سبب سره وو. کوم عذر او ضرورت چه د مرض په شان وي. او دا قول د امام احمد بن حنبل رحمه الله دے. او د قاضي حسين د شافعيو نه. او غوره کړے دي دے لره خطابي رحمه الله . او متولي او رداني د اصحاب شافعيو نه او دغه قول غوره دے د ظاهر حديث په وجه سره. او د ابن عباس رضي الله عنه د تاخير کولو په وجه سره. او د ابوهريرة رضي الله عنه د موافقت په لحاظ سره. او دد ے وجے نه هم چه په مرض کښې يا په بعضے ضرورتونو کښې چه په مثل د مرض وي.

فائده : يعني چه په هغے کښې سړے مجبور شي.

پنځم تاويل : په باران سره زيات مشقت کيږي. او د امامانو يو جماعت په دے طرف تلے دے. چه جمع کول په حضر کښې د څۀ حاجت په وجه سره روادي. کله چه د هغے عادت نۀ کوي. او دغه قول دے د ابن سيرين او اشهب رحمهما الله او حکايت کړے دے دے لره خطابي رحمه الله د قفال او شاشي کبير نه . چه د اصحاب شافعيو نه دي. د ابي اسحٰق مزروي نه هغوي نقل کړے دے د اصحاب

بَاب جَوَازِ الِانْصِرَافِ مِنَ الصَّلَاةِ عَنِ الْيَمِينِ وَالشِّمَالِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَا يَجْعَلَنَّ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ مِنْ نَفْسِهِ جُزْءًا لَا يَرَى إِلَّا أَنَّ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ لَا يَنْصَرِفَ إِلَّا عَنْ يَمِينِهِ أَكْثَرُ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ شِمَالِهِ

عَنِ السُّدِّيِّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا كَيْفَ أَنْصَرِفُ إِذَا صَلَّيْتُ عَنْ يَمِينِي أَوْ عَنْ يَسَارِي قَالَ أَمَّا أَنَا فَأَكْثَرُ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ

عَنِ السُّدِّيِّ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ

باب : د مونځ کولو نه پس ښی او ګس دواړه طرفونو ته د راګرځیدو بیان

عبد اللهؓ ویلی دی چه څوک د خپل ذات نه شیطان له څۀ حصه ورنۀ کړئ. دا مۀ ګڼړه چه د مانځۀ نه پس ښی طرفته ګرځیدل په ما باندے واجب دی ما اکثر لیدلی دی چه رسول اللهﷺ به ګس طرفته هم راګرځیدل کول[1].

سُدّی ویلی دی چه ما د انسؓ نه تپوس اوکړو چه زۀ مونځ اوکړم نو کوم طرفته به راګرځم. ښی طرفته یا ګس طرفته ؟ هغوی اووے. ما خو اکثر رسول اللهﷺ لره ښی طرفته راګرځیدلے لیدلے دے.

سُدّی د انسؓ نه روایت کړے دے چه حضور نبی کریمﷺ به ښی طرفته راګرځیدل کول.

بَاب اسْتِحْبَابِ يَمِينِ الْإِمَامِ

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْبَبْنَا أَنْ نَكُونَ عَنْ يَمِينِهِ يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ فَسَمِعْتُهُ

باب : د امام ښی طرفته اودریدل مستحب دی

د براءؓ نه روایت دے چه هغوی ویلی دی چه مونږ خلقو به غوره ګڼړله چه د رسول اللهﷺ نه ښی طرفته اودریږو (یعنی په مانځۀ کښں) چه حضرت زمونږ طرفته مخ کړی او کینی. او ما اوریدلی چه هغۀ به ویل

حدیث د یو جماعت نه او ابن منذر دے لره غوره کړے دے. او مؤید دی ددے قول د ابن عباس رضی الله عنه دا ویل چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم غوښتل چه د هغۀ امت ته د تکلیف نۀ وی. غرض ابن عباس رضی الله عنه څۀ مرض وغیره لره د هغے حلت نۀ دے ګرځولے.

فائده : یعنی معلومه شوه چه محض د امت د آسانۍ دپاره دا امر اوشو. خواه مرض وی یا نۀ وی. یا څۀ بل څۀ ضرورت وی یا نۀ وی. او کومه آسانی چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم زمونږ دپاره غوښتلی ده. هغه د امت خلق څنګه رَد کولے شی. لکه چه څنګه دا اسانی ددغه روایتونو نه ثابته شوه دغه شان عادت هم د حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم د نورو حدیثونو نه ثابت شوے دے. چه پنځو مونځونو لره به ئے همیشه په خپل وخت باندے ادا کول او د جمع کولو عادت ئے نۀ لرلو. پس د سنتو تابعدارو لره د دواړو خبرو لحاظ ساتل ضروری دی.

[1] کله چه دومره غوند تعیُّن د خپل طرفته د شیطان حصه شوه او چه کوم جاهل خلق دریمه، لسمه یا شپږمه یا د بسم الله تعین د خپل طرفته ګڼړی. نو هغه خو پوره د شیطان په حصه کښں راغلو. نعوذ بالله منها

يَقُولُ رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ أَوْ تَجْمَعُ عِبَادَكَ

رَبِّ نه د آخره پورې (یعنی اے ربه بچ کړے ما لره د عذاب نه په هغه ورځ چه پورته کوے یا جمع کوے ته خپلو بندیګانو لره[۲]

بَاب كَرَاهَةِ الشُّرُوعِ فِي نَافِلَةٍ بَعْدَ شُرُوعِ الْمُؤَذِّنِ فِي إِقَامَةِ الصَّلَوٰةِ سَوَآءٌ السُّنَّةُ الرَّاتِبَةُ كَسُنَّةِ الصُّبْحِ وَالظُّهْرِ وَغَيْرِهِمَا وَسَوَآءٌ عَلِمَ أَنَّهُ يُدْرِكُ الرَّكْعَةَ مَعَ الْإِمَامِ أَمْ لَا

باب: د مؤذن د اقامت د شروع کولو نه روستهٔ نفل شروع کول مکروه دی. په دے حکم سنت مؤکده مثلاً د سحر او د ماسپخین سنت او سنت غیر مؤکده برابر دی. خوا که مونځ کونکی ته د امام سره رکعت د میلاویدو یقین وی یا نهٔ وی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه نبی کریمﷺ فرمایلی دی چه کله د فرض مانځهٔ تکبیر اوشی. نو بل مونځ کول نهٔ دی پکار سوا د فرضونه.

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ يَقُولُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةُ

عطاء بن یسار د ابوهریرهؓ نه او هغوی د نبی کریمﷺ نه د دے په مثل روایت کړے دے. حمّاد وائی چه بیا زهٔ د عَمرو سره میلاو شوم نو هغوی دغه روایت اوکړو مګر حضرتﷺ ته ئے او نهٔ رسوو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِرَجُلٍ يُصَلِّي وَقَدْ أُقِيمَتْ صَلَاةُ الصُّبْحِ فَكَلَّمَهُ بِشَيْءٍ لَا نَدْرِي مَا هُوَ فَلَمَّا انْصَرَفْنَا أَحَطْنَا نَقُولُ مَاذَا قَالَ لَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ لِي يُوشِكُ أَنْ يُصَلِّيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ أَرْبَعًا قَالَ

د مالک خوئ عبد الله وئیلی دی چه رسول اللهﷺ د یو سړی په خواه تیر شو کله چه د سحر د مانځهٔ تکبیر شوے وو. او څهٔ ئے اووے چه مونږ ته معلومه نهٔ شوه. بیا چه کله مونږ د مانځهٔ نه اوزګار شو نو هغه مو را اونیوو. او ورته مو اووے. چه څهٔ اووے تا ته رسول اللهﷺ؟ هغهٔ اووے. چه حضرتؐ اوفرمایل. چه اوس څوک پتاسو کښې څلور رکعته کوی د سحر. قعنبی وائی چه عبد الله بن مالک بن

[۱] د دے روایتونو نه معلومه شوه چه کله حضرتﷺ نبی طرفته راګرځیدلے دے او ناست دے کله ګس طرفته. او کوم راوی چه څهٔ لیدلی بیان کړی ئے دی. اګر کهٔ د روایتونو نه نبی طرفته راګرځیدل او کیناستل غوره معلومیږی. مګر دے لره واجب ګنړل دغه د شیطان حصه ده.



الْقَعْنَبِيُّ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَالِكٍ ابْنُ بُحَيْنَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَبُو الْحُسَيْنِ مُسْلِمٌ وَقَوْلُهُ عَنْ أَبِيهِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ خَطَأٌ

بُحینه روایت کوی د خپل پلار نه مسلم وائی د هغهٔ دا ویل چه هغه روایت کوی د خپل پلار نه دا خطا ده.

عَنِ ابْنِ بُحَيْنَةَ قَالَ أُقِيمَتْ صَلاَةُ الصُّبْحِ فَرَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً يُصَلِّي وَالْمُؤَذِّنُ يُقِيمُ فَقَالَ أَتُصَلِّي الصُّبْحَ أَرْبَعًا

ابن بُحینهؓ ویلی دی چه د سحر د مانځهٔ تکبیر اوشو. او رسول اللهﷺ یو سړے اولیدو چه مونځ ئے کولو. او مؤذن تکبیر کولو. نو اوئے فرمایل. چه ته د سحر څلور رکعته ادا کوے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلاَةِ الْغَدَاةِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فِي جَانِبِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَلَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا فُلاَنُ بِأَيِّ الصَّلاَتَيْنِ اعْتَدَدْتَ أَبِصَلاَتِكَ وَحْدَكَ أَمْ بِصَلاَتِكَ مَعَنَا

د سرجس ځوئ عبد اللهؓ ویلی دی چه یو سړے جماعت ته راغے. او رسول اللهﷺ د سحر فرض کولو. نو هغهٔ دوه رکعته سنت د جماعت یو ے اړخ ته اوکړل بیا د رسول اللهﷺ سره شریک شو. کله چه هغهٔ سلام اوګرځوو نو اوئے فرمایل. اے فلانیه! تا فرض مونځ کوم یو لره شمار کړ. آیا هغه چه ځانله دِ اوکړو یا هغه چه زمونږ سره دِ اوکړو[1]

بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ

باب: جماعت ته د تلو د دُعا بیان

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ أَوْ عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

ابی حمید یا ابی أُسیدؓ ویلی دی. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه هر کله څوک جماعت ته راشی نو وائی دِ یا الله پرانزه ماته دروازے د خپل رحمت. او هر کله چه د جماعت نه اوځی نو وائی دِ یا الله زهٔ ستا فضل غواړم یعنی رزق او د دنیا نعمتونه

---

[1] د دے تولو روایتونو نه معلومه شوه. چه د فرضو کیدو په وخت د سنتو کول مکروه دی. نووی رحمه الله ویلی دی چه په دے حدیث کښې دلیل دے چه روستو د اقامت نه به نفل یعنی سنت وغیره نهٔ کوی. اګر چه هغهٔ ته یقین هم وی. چه ما ته به د امام سره مونځ میلاو شی او د دے روایت نه د هغے قول رد راغے چه هغه وائی چه سنتن کول روا دی. کله چه پوهه شی چه ورمبے رکعت به د امام سره میلاو شی یا ئے دا خیال وی چه دویم رکعت به ضرور میلاو شی.

د احنافو په نزد کهٔ چرے د امام سره د یو رکعت د رسولو امید وی نو په پرده کښې به اودریږی د سحر سنت کول پکار دی ځکه چه په احادیثو کښې د دے ډیر تاکید راغلے دے.

مسلم وائی اوریدلی دی ما د یحییٰ بن یحییٰ نه چه ویلی ئے وو. چه لیکلے دے ماد احدیث د سلیمان بن بلال د کتاب نه اوویلی دی هغوی چه ما ته خبر رارسیدلے دی چه یحییٰ حمّانی ویلی وو او روایت دے د ابی اسید نه ویلی دی مسلم روایت کړے دے مونږ ته حامد بن عَمرو بکراوی. هغهٔ ته بشر هغهٔ ته عمّاره، هغهٔ ته ربیعه هغهٔ ته عبد الملک هغهٔ ته ابی حمید یا ابی اُسید هغوی د نبی کریم ﷺ نه پشان دد ے.

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ بِرَكْعَتَيْنِ وَكَرَاهَةِ الْجُلُوسِ قَبْلَ صَلَاتِهِمَا وَأَنَّهَا مَشْرُوعَةٌ فِي جَمِيعِ الْأَوْقَاتِ

باب: د تَحِیَّۃُ المسجد بیان. او: دوو رکعاتو نه بغیر په جماعت کښ د ناستے د مکروه کیدو او د دغه دوو رکعاتو په ټولو وختونو کښ د جائز کیدو بیان

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ

ابو قتادهؓ ویلی دی چه رسول اللهؐ فرمایلی دی. کله چه څوک جماعت ته راشی نو د کیناستو نه د مخکښ دوه رکعته مونځ ادا کوی.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ جَالِسٌ بَيْنَ ظَهْرَانَيِ النَّاسِ قَالَ فَجَلَسْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَرْكَعَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ تَجْلِسَ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ رَأَيْتُكَ جَالِسًا وَالنَّاسُ جُلُوسٌ قَالَ فَإِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلَا يَجْلِسْ حَتَّى يَرْكَعَ رَكْعَتَيْنِ

ابو قتادهؓ ویلی دی چه صحابی دے د رسول اللهؐ چه زهٔ جماعت ته لاړم او رسول اللهؐ په خلقو کښ ناست وو نو زهٔ هم کیناستم. هغهٔ اوفرمایل چه چا منع کړے ته د دوه رکعته کولو نه مخکښ د کیناستو نه. ما عرض اوکړو یا رسول اللهؐ! ما تا لره او خلقو لره په ناستے اولیدل (نو زهٔ کیناستم). حضرتؐ اوفرمایل. کله چه ستاسو نه څوک جماعت ته راشی نو د کومے پوری چه ئے دوه رکعته نهٔ وی کړی نهٔ د کینی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ لِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ فَقَضَانِي وَزَادَنِي وَدَخَلْتُ عَلَيْهِ الْمَسْجِدَ فَقَالَ لِي صَلِّ رَكْعَتَيْنِ

جابر بن عبد اللهؓ ویلی دی چه په نبی کریم ﷺ باندے خما څهٔ قرض وو. او زهٔ د هغهٔ خواله جماعت ته لاړم نو هغهٔ راکهٔ. او ما ته ئے اوفرمایل چه دوه رکعته اوکړه.

عَنْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ اشْتَرَى مِنِّي رَسُولُ

جابر بن عبد اللهؓ ویلی دی چه رسول اللهؐ خمانه اوبښ واخستو. او

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيرًا فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ أَمَرَنِي أَنْ آتِيَ الْمَسْجِدَ فَأُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ

کله چه مدینې ته راغې. نو اوئې فرمایل. چه ته جماعت ته راشه او دوه رکعته اوکړه [1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ الرَّكْعَتَيْنِ فِي الْمَسْجِدِ لِمَنْ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ أَوَّلَ قُدُومِهِ

باب: مسافر لره د سفر نه په واپسئ اول جُماعت ته راتللٔ دوه رکعته کول مستحب دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَأَبْطَأَ بِي جَمَلِي وَأَعْيَا ثُمَّ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَبْلِي وَقَدِمْتُ بِالْغَدَاةِ فَجِئْتُ الْمَسْجِدَ فَوَجَدْتُهُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ قَالَ الْآنَ حِينَ قَدِمْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَدَعْ جَمَلَكَ وَادْخُلْ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ قَالَ فَدَخَلْتُ فَصَلَّيْتُ ثُمَّ رَجَعْتُ

جابر بن عبد اللهؓ ویلی دی چه زۀ د رسول الله ﷺ سره یوه غزا ته لاړم. او خما اوښ حصار شو او ستړے شو. بیا راغے. خما نه مخکښې رسول الله ﷺ او زۀ په دویمه ورځ جماعت ته راااورسیدم. او هغهٔ مے د جماعت په دروازه کښې اوموندو. حضرتؐ اوفرمایل. تهٔ اوس راغلے. ما اووے آو. هغهٔ راته اوفرمایل. اوښ پرېږده جماعت ته داخل شه. او دوه رکعته ادا کړه. بیا زهٔ لاړم او دوه رکعته مے اوکړه او واپس شوم.

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ

د مالک ځوئ کعبؓ ویلی دی. چه د رسول الله ﷺ عادت وو چه کله به د سفر نه راتلو نو په وخت د څاښت کښې به داخلیدو (په ښهر کښې) پس مخکښې به جماعت ته لاړو او دوه رکعته به ئے اوکړل بیا به کیناستو په هغے کښې.

بَابُ اسْتِحْبَابِ صَلَاةِ الضُّحَى

باب: د څاښت د مانځهٔ د مستحب کیدو بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ هَلْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى قَالَتْ لَا إِلَّا أَنْ يَجِيءَ مِنْ مَغِيبِهِ

عبد الله بن شقیق د حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به د څاښت مونځ ادا کولو؟ هغے اوفرمایل نه مګر کله چه به د سفر نه راغے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ فرمایلی دی چه ما رسول الله ﷺ لره

---

[1] د دے تولو نه معلومه شوه چه کله په جماعت کښې داخل شی نو مستحب دی چه د کیناستو نه مخکښې دوه رکعته ادا کړی بعضے کم عقل مخکښې کینی بیا ادا کوی دا محض ناپوهی ده.

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي سُبْحَةَ الضُّحَى قَطُّ وَإِنِّي لَأُسَبِّحُهَا وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَدَعُ الْعَمَلَ وَهُوَ يُحِبُّ أَنْ يَعْمَلَ بِهِ خَشْيَةَ أَنْ يَعْمَلَ بِهِ النَّاسُ فَيُفْرَضَ عَلَيْهِمْ

عَنْ مُعَاذَةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا كَمْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي صَلَاةَ الضُّحَى قَالَتْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَيَزِيدُ مَا شَاءَ

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ مَا أَخْبَرَنِي أَحَدٌ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى إِلَّا أُمُّ هَانِئٍ فَإِنَّهَا حَدَّثَتْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ فَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مَا رَأَيْتُهُ صَلَّى صَلَاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ بَشَّارٍ فِي حَدِيثِهِ قَوْلَهُ قَطُّ

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ قَالَ سَأَلْتُ وَحَرَصْتُ عَلَى أَنْ أَجِدَ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ يُخْبِرُنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَّحَ سُبْحَةَ الضُّحَى فَلَمْ أَجِدْ أَحَدًا يُحَدِّثُنِي ذَلِكَ غَيْرَ أَنَّ أُمَّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَتْنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى بَعْدَ مَا ارْتَفَعَ النَّهَارُ يَوْمَ الْفَتْحِ فَأُتِيَ بِثَوْبٍ فَسُتِرَ عَلَيْهِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ لَا أَدْرِي أَقِيَامُهُ فِيهَا أَطْوَلُ أَمْ رُكُوعُهُ أَمْ سُجُودُهُ كُلُّ ذَلِكَ مِنْهُ مُتَقَارِبٌ

چرته د څاښت په مونځ ادا کولو نه دے لیدلے او زۀ ادا کوم او د رسول الله ﷺ په بعضے کار خوښ وو مگر ددے یرے نه به ئے نۀ کوو چه کۀ چرته خلق ئے شروع کړی نو هسے نه چه فرض شی په په هغوی

معاذؓ د مسلمانانو د مور حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به د څاښت مونځ څو رکعته لولو هغوی اوفرمایل څلور رکعته او زیات به ئے کړو چه کله به ئے خوښه شوه

عبد الرحمنؒ ویلی دی چه ما ته چا خبر نۀ دے راکړے چه هغه رسول الله ﷺ د څاښت په مانځۀ کولو لیدلے وی مگر اُمِ هانیؓ چه هغوی ویلی دی چه رسول الله ﷺ څما کورته راغے په کومه ورځ چه مکه فتح شوه او اته رکعته ئے اوکړل چه ما چرته هغۀ لره دومره په جلتئ مونځ کولو نه وو لیدلے فقط دومره خبره وه چه هغه رکوع او سجده برابر پوره کوله او قراءت به ئے ډیر کم لوستول او ابن بشار په خپل روایت کښې د چرته لفظ نه دے ویلے

عبد الله بن حارث بن نوفل ویلی دی چه ما آرزو لرله او په تپوس کولو پسے به گرځیدم ددے دپاره چه څوک ماته اوښائی چه رسول الله ﷺ د څاښت مونځ کړے دے نو ما څوک او نۀ موندو چه بیان کړے ئے وے سوا د اُمِ هانیؓ نه چه د ابوطالب لوره ده. چه هغے خبر راکړو چه رسول الله ﷺ په کومه ورځ چه مکه فتح شوه د نمر د راختو نه په وخت راغے او یوه کپړه د پردے دپاره خوره شوله نو هغۀ غسل اوکړو بیا اودریدو اته رکعته مونځ ئے اوکړو زۀ نۀ پوهیدم چه د هغۀ قیام اوږد وو یا رکوع یا سجده دا ټول ارکان برابر وو او ما ددے نه مخکښې او روستو هغه لره د څاښت په

قَالَتْ فَلَمْ أَرَهُ سَبَّحَهَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ قَالَ الْمُرَادِيُّ عَنْ يُونُسَ وَلَمْ يَقُلْ أَخْبَرَنِي

عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ تَقُولُ ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ قَالَتْ فَسَلَّمْتُ فَقَالَ مَنْ هٰذِهِ قُلْتُ أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ قَالَ مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ قَامَ فَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ فَلَمَّا انْصَرَفَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ زَعَمَ ابْنُ أُمِّي عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ أَنَّهُ قَاتِلٌ رَجُلًا أَجَرْتُهُ فُلَانُ ابْنُ هُبَيْرَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ يَا أُمَّ هَانِئٍ قَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ وَذٰلِكَ ضُحًى

عَنْ أُمِّ هَانِئٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي بَيْتِهَا عَامَ الْفَتْحِ ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ قَدْ خَالَفَ بَيْنَ طَرَفَيْهِ

مانځۀ کولو نۀ دے لیدلے. مرادي ویلي دي روایت دے د یونس نه او دائے نۀ دي ویلي چه ما ته ئے خبر راکړے دے.

د ابوطالب لور اُمِّ هانی وائی. چه زۀ د فتح مکے په کال د رسول الله ﷺ خواله راغلم او هغه مِ اوموندو چه غسل ئے کولو. او فاطمے د هغۀ لور په یوے کپړے سره هغۀ ته پرده کړے وه. بیا ما سلام اوکړو. هغۀ اوفرمایل څوک ئے ؟ ما عرض اوکړو چه د ابوطالب لُور اُمِ هانی. هغۀ اوفرمایل هر کله راشے ام هانئ. بیا چه کله د غسل نه فارغ شو. نو اودریدو او اتۀ رکعتهٔ ئے اوکړل په یوه کپړه کښې پټ وو. بیا چه ئے کله پوره کړه نو ما عرض اوکړو. یا رسول الله! ځما د مور خوئ علی ابن ابی طالب یو سړی لره وژنی چه هغۀ لره ما آمن ورکړے دی. د هُبیره خوئ فلانی لره. هغۀ اوفرمایل چاله چه اُمِّ هانی امان ورکړے دے هغۀ لره مونږ امان ورکړے دے اے اُمِّ هانی. ام هانی اوویل چه دا د څابنت مونځ وو.

اُمِّ هانی ویلي دي چه رسول الله ﷺ د هغے په کور کښې په کوم کال چه مکه فتح شوه اتۀ رکعته مونځ اوکړو. او یوه کپړه ئے اغوستے وه. چه د هغے ګوټونه د ښی طرف ئے ګس طرفته او ګس طرف ئے ښی طرفته تړلی وو[1].

---

[1] : نووی رحمه الله ویلي دي چه ددے ټولو روایتونو حاصل دادے چه د څابنت مونځ سنت مؤکد دے. او د کم نه کم د هغے دوه رکعتونه دي. او زیات نه زیات اتۀ رکعته او متوسط څلور رکعته دي. یا شپږ رکعته دي. او چونکه حضرت صلی الله علیه وسلم کله ادا کړی دي او کله نۀ دي. خکه چا چه نۀ دے لیدے هغوی انکار کړے دے. دغه رنګے د حضرت عائشے رضی الله عنها فرمان هم داسے دے. او د ابن عمر رضی الله عنه نه چه کوم روایت شوے دے. چه هغوی بدعت ویلي دي مراد د هغے نه دادے. چه په جماعت کښې د ښودنے دپاره لوستل بدعت دے. لکه څنګه چه ئے خلق په کولو لګیدلی وو. خکه چه اصل نفل کول په کور کښې دي. یا مواظبت او همیش والے په هغے باندے بدعت دے. خکه چه رسول الله ﷺ په دے باندے همیش والے نۀ دی کړے او همیش والے نۀ کول د هغۀ په دے عذر سره وو. چه د فرض کیدو یره ئے وه. او اوس دا یره نشته دے. او مستحب کیدل د همیش والی زمونږ په حق کښې ثابت شوی دی. د ابودرداء او ابوهریره رضی الله عنهما د روایت نه. کوم چه په دے باب کښې وړاندے راغی. او ابن عمر رضی الله عنهما ته

عَنْ أَبِي ذَرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَيُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى

ابوذرؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی. هر کله چه په بنده باندے سحر کیږی نو د هغهٔ په هر جوړ باندے صدقه واجبیږی بیا هر خل سُبحٰن الله ویل یوه صدقه ده. او هرخل الحمد لله ویل یوه صدقه ده. او هر خل لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ویل یو صدقه ده. او د نیے خبرے حُکم کول یو صدقه ده. او د بدے خبرے نه منع کول یو صدقه ده. او ددے ټولو نه کافی کیږی د څاښت دوه رکعتونه چه هغے لره هغه ادا کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَوْصَانِي خَلِيلِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثٍ بِصِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَكْعَتَيِ الضُّحَى وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَرْقُدَ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه خما دوست (محمد رسول الله ﷺ) ما ته د درے څیزونو وصیت فرمایلے دے. په هره میاشته کښں د درے روژو نیولو. او د څاښت د دوه رکعته مونځ او د اوده کیدو نه مخکښیں د وتر کولو[1].

عَنْ أَبِي مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ أَوْصَانِي حَبِيبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثٍ لَنْ أَدَعَهُنَّ مَا عِشْتُ بِصِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَصَلَاةِ الضُّحَى وَبِأَنْ لَا أَنَامَ حَتَّى أُوتِرَ

ابو مُرّه د ابو الدّرداءؓ نه روایت کړے دے چه هغوی ویلی دی. ما ته خما خوږ (نبی) د دریو څیزونو وصیت کړے دے. زهٔ چه د کومے پوری ژوندے یم هغے لره به نهٔ پریږدم. په هره میاشت کښں درے روژے نیول. او د څاښت مونځ کول. او نهٔ اوده کیدل بغیر د وترو کولو نه

بَاب اسْتِحْبَابِ رَكْعَتَيْ سُنَّةِ الْفَجْرِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِمَا

باب : د سحر د سنتو فضیلت او په هغے د تیزولو بیان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ حَفْصَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَكَتَ

د عمر بن خطابؓ خوئ عبد اللهؓ ویلی دی. چه خبر ورکړے دے هغهٔ ته د مسلمانانو مور حفصےؓ. چه د رسول الله ﷺ عادت مبارک

کیدے شی د هغهٔ صلی الله علیه وسلم فعل نهٔ وی رسیدلے. او د هغهٔ د حکم کولو خبر ورته شوے نهٔ وی. او جمهور علماء ددے مستحب کیدو قائل دی. او د ابن مسعود او ابن عمر رضی الله عنهما توقف هم مذکور دے.

[1] د چا چه د تهجدو په وخت د پاسیدو یقین نهٔ وی. هغهٔ لره په اول وخت وتر کول غوره دی.

الْمُؤَذِّنُ مِنَ الْأَذَانِ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ وَبَدَا الصُّبْحُ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ تُقَامَ الصَّلَاةُ

وو چه کله به مؤذن د سحر اذان ورکړو او چپ به شو. او چه سحر به شو نو دوه رکعتونه به ئے لنډ اوکړل مخکښ د تکبیر د فرضو نه

عَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ لَا يُصَلِّي إِلَّا رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ

د مسلمانانو مور حفصةؓ فرمایلی دی چه رسول اللهﷺ چه به کله صبا رااوختو نو نۀ به ئے کول مگر لنډ دوه رکعتونه.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَخْبَرَتْنِي حَفْصَةُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَضَاءَ لَهُ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ

سالم د خپل پلار نه هغوی د حفصےؓ نه روایت کړے دے چه نبی کریمﷺ کله چه به سحر رڼړا شوه نو دوه رکعتونه به ئے ادا کول.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ إِذَا سَمِعَ الْأَذَانَ وَيُخَفِّفُهُمَا

د مسلمانانو مور د رسول اللهﷺ محبوبا حضرت عائشهؓ فرمائی. چه رسول اللهﷺ به د سحر دوه رکعته سنت کول کله چه به ئے اذان واوریدلو. او هغه به ئے ډیر لنډ کولو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَيْنَ النِّدَاءِ وَالْإِقَامَةِ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ

د مسلمانانو مور د رسول اللهﷺ محبوبا حضرت عائشهؓ فرمائی. چه نبی کریمﷺ به دوه رکعتونه کول. د اذان او د سحر د تکبیر په مینځ کښ.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَيُخَفِّفُ حَتَّى إِنِّي أَقُولُ هَلْ قَرَأَ فِيهِمَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ

حضرت عائشهؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ به د سحر دوه رکعته دومره قدرے لنډ کولو چه ما به ویل چه حضرتﷺ په دے کښ فاتحه لوستلے ده او کۀ نۀ ده.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ أَقُولُ هَلْ يَقْرَأُ فِيهِمَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ فرمائی. چه رسول اللهﷺ چه کله به سحر شو دوه رکعته به ئے کول چه ما به ویل. چه حضرتﷺ په دے کښ سورة فاتحه لوستلے ده او کۀ نۀ ده (یعنی دومره لنډ به ئے کولو)

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمْ يَكُنْ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ مُعَاهَدَةً مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ

د مسلمانانو مور حضرت عائشهؓ فرمایلی دی چه نبی کریمﷺ به د څۀ قسم نفلو دومره خیال نۀ ساتلو. لکه د سحر نه مخکښ د دوو رکعتونو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ فِي شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَسْرَعَ مِنْهُ إِلَى

حضرت عائشهؓ فرمائی نه دے لیدلے ما رسول اللهﷺ لره د څۀ نفلو دپاره په تادئ کولو. لکه چه م لیدلے دے د دوو رکعتونو دپاره

الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ
دسحرنه مخکښې

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا

حضرت عائشے روایت کړے دے درسول الله ﷺ نه چه هغه فرمایلی دی. چه د سحر دوه رکعتو نه ددنیا نه او څه چه په دنیا کښې دی (دهغے ټولو نه) غوره دی.

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي شَأْنِ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ لَهُمَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا جَمِيعًا

د مسلمانانو مور حضرت عائشے روایت کړے دے د رسول الله ﷺ نه چه هغهٔ ویلی دی د سحر د دوو رکعتونو په باره کښې چه دا ماته د ټولے دنیا نه او څهٔ چه په هغے کښې دی د هغے نه زیات خوارهٔ دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ

ابوهریره ویلی دی چه رسول الله ﷺ به د سحر په سنتو کښې قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ کوستو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فِي الْأُولَى مِنْهُمَا قُولُوا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا الْآيَةَ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ وَفِي الْآخِرَةِ مِنْهُمَا آمَنَّا بِاللهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ

ابن عباس ویلی دی چه رسول الله ﷺ به د سحر په دوه رکعته سنتو کښې په ومبی رکعت کښې قُولُوا آمَنَّا بِاللهِ نه د آخره پورے لوستول. کوم ایتونه چه په سورة بقره کښې وارد شوی دی. او په دویم کښې د آمَنَّا بِاللهِ نه د آخره پوری (او سر دد ے ایت دادے: قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ الآية)

بَاب فَضْلِ السُّنَنِ الرَّاتِبَةِ وَبَيَانِ عَدَدِهِنَّ

باب: د سنتو د فضیلت او د هغے د شمار بیان

عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَنْبَسَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ بِحَدِيثٍ يَتَسَارُّ إِلَيْهِ قَالَ سَمِعْتُ أُمَّ حَبِيبَةَ تَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ مَنْ صَلَّى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ بُنِيَ لَهُ بِهِنَّ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ قَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ فَمَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَقَالَ عَنْبَسَةُ فَمَا

عمرو بن اوس ویلی دی روایت کړے دے ما ته عنبسه په هغه بیماری کښې چه په هغے کښې هغه مړ شو. وو داسے حدیث چه په هغے سره خوشحالی راځی. عنبسه وائی ما د اُم حبیبه نه اوریدلی دی چه فرمایلی ئے وو اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمایل ئے. چا چه په شپه او ورځ کښې دوولس رکعتونه اوکړل د هغهٔ دپاره یو کور په جنت کښې جوړ کړے شی. اُم حبیبه وائی کله چه ما دا واوریدل. د رسول الله ﷺ نه ما بیا دغه رکعتونو لره نهٔ دی پریخودی

تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ أُمِّ حَبِيبَةَ وَقَالَ عَمْرُو بْنُ أَوْسٍ مَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ عَنْبَسَةَ وَقَالَ النُّعْمَانُ بْنُ سَالِمٍ مَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ

عمرو بن اوس وائی د کله نه چه ما دا واوریدل د عنبسه نه ما بیا هغې لره نۀ دی پریخودلی. نعمان بن سالم وائی د کله نه چه ما دا واوریدل د عمرو بن اوس نه ما بیا دغه رکعتونو لره نۀ دی پریخودی.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَالِمٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَجْدَةً تَطَوُّعًا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ

د نعمان بن سالم نه ددغه سند سره روایت دے . چه چا هره ورځ کښې دولس رکعته د سنتو اوکړل د هغۀ دپاره په جنت کښې یو کور جوړولے شی.

عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ إِلَّا بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ أَوْ إِلَّا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ قَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ فَمَا بَرِحْتُ أُصَلِّيهِنَّ بَعْدُ وَقَالَ عَمْرٌو مَا بَرِحْتُ أُصَلِّيهِنَّ بَعْدُ وَقَالَ النُّعْمَانُ مِثْلَ ذٰلِكَ

د مسلمانانو مور د رسول الله ﷺ بی بی اُم حبیبه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه یو بنده مسلمان داسی نشته چه د الله دپاره په هره ورځ کښې دولس رکعته په خوشحالئ سره ادا کوی سوا د فرضو نه مګر الله تعالی د هغۀ په واسطه یو کور په جنت کښې جوړ وی. یائے اوفرمایل چه د هغۀ دپاره یو کور په جنت کښې جوړ وی. اُم حبیبه رضی الله عنها فرمایلی دی. زۀ د هغې ورځې نه دغې لره همیشه ادا کوم. او عنبسه ویلی دی چه زۀ ئے هم د هغه ورځې نه همیشه ادا کو. او عمرو او نعمان هم دغه شان ویلی دی.

عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ تَوَضَّأَ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ صَلَّى لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ

اُم حبیبه رضی الله عنها ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه یو بنده مسلمان داسے نشته چه هغه اودس پوره اوکړو. او بیائے د الله دپاره په هره ورځ کښې مونځ اوکړو. او بیائے پښان د پورته روایت بیان کړو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ قَبْلَ الظُّهْرِ سَجْدَتَيْنِ وَبَعْدَهَا سَجْدَتَيْنِ وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ سَجْدَتَيْنِ وَبَعْدَ الْعِشَاءِ سَجْدَتَيْنِ وَبَعْدَ الْجُمُعَةِ سَجْدَتَيْنِ فَأَمَّا الْمَغْرِبُ وَالْعِشَاءُ

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ویلی دی چه ما اوکړل د رسول الله ﷺ سره د ماسپخین نه مخکښې دوه رکعتونه او د ماښام نه پس دوه رکعتونه او د ماسختن نه پس دوه رکعتونه او د جمعې نه پس دوه رکعتونه مګر د ماښام او ماسختن او د جمعې دوه رکعتونه م د رسول الله ﷺ

وَالْجُمُعَةُ فَصَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي بَيْتِهِ

بَابُ جَوَازِ النَّافِلَةِ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَفِعْلِ بَعْضِ الرَّكْعَةِ قَائِمًا وَبَعْضِهَا قَاعِدًا

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّي فِي بَيْتِي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَيُصَلِّي بِالنَّاسِ الْعِشَاءَ وَيَدْخُلُ بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ فِيهِنَّ الْوِتْرُ وَكَانَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا وَلَيْلًا طَوِيلًا قَاعِدًا وَكَانَ إِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ وَإِذَا قَرَأَ قَاعِدًا رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ وَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا رَكَعَ قَائِمًا وَإِذَا صَلَّى قَاعِدًا

سره په کور کښې اوکړل[1]

باب : د نفلو په ولاړے، ناستے یا په یوْ رکعت کښې د څۀ ولاړے او د څۀ ناستے جائز کیدل

عبد الله بن شقیق ویلی دی چه ما د حضرت عائشےؓ نه د رسول اللهﷺ د نفل مونځ د حال تپوس اوکړو. نو هغوی اوفرمایل. چه هغۀ به ځما په کور کښې د ماسپخین د مانځۀ نه مخکښې څلور رکعته مونځ کولو. بیا به اووتو او د خلقو سره به ئے فرض مونځ اوکړو. بیا به کورته راغے دوه رکعته به ئے اوکړل او د خلقو سره به ئے د ماښام مونځ ادا کړو. بیا به کورته راغے او دوه رکعته به ئے اوکړه. او ماسختن به ئے د خلقو سره ادا کړو او کورته به راغے او دوه رکعته به ئے اوکړل او د شپے به ئے نهه رکعتونه ادا کول چه په هغے کښې به وترهم وواودلوئے شپے به ئے په ولاړے کولو او د لوئے شپے پورے به په ناستے سره. او چه په ولاړے به ئے قرأت کولو نو رکوع او سجده به ئے هم په ولاړے کول او کله چه به ئے قرأت په ناستے کولو نو رکوع او سجده به ئے هم په ناستے کول. او کله چه به صبا راااوختو نو دوه رکعته به ئے ادا کړل

حضرت عائشےؓ فرمایلی دی. چه رسول اللهﷺ به د لوئے لوئے شپے پورے مونځ کولو. بیا چه کله به ئے په ادا کولو. نو رکوع به ئے هِم په ولاړے ولاړے کوله. او کله چه به ئے په ناستے ادا

---

[1] ددے روایت نه معلومیږی چه د سنتو په کور کښې کول غوره دی. او امام مالک او ثوری رحمهم الله ویلی دی. د ورځے نفل په جماعت کښې او د شپے نفل په کور کښې غوره دی. مګر د سلفو یو جماعت ویلی دی. چه ټول نفل په کور کښې غوره دی. او ددے روایتونو نه هم دغه معلومیږی. چه رسول الله صلّی الله علیه وسلم به سنت د سحر او د جمعے په کور کښې کول. او په حدیث کښې راغلی دی چه هغۀ فرمایلی دی په کور کښې مونځ غوره دے سوا د فرضو نه او دا ارشاد د هغۀ عام دے. پس سنت دغه دی چه ستن په کور کښې ادا کړی او همیشه په جماعت کښې کول د بدعت نه خالی نۀ دی. او خاصکر د فرضو د کیدو سره په سنتو کښې مشغولیدل د کراهت نۀ خالی نۀ دی. د سحر د سنتون نه علاوه، چه په پرده کښې اودریږی ادا کیږی(عارف). مګر زیات خلق ددے نه غافل دی.

رَكَعَ قَاعِدًا

کولو نو رکوع به ئے هم په ناستے ادا کوله.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ كُنْتُ شَاكِيًا بِفَارِسَ فَكُنْتُ أُصَلِّي قَاعِدًا فَسَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ عَائِشَةَ فَقَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا فَذَكَرَ الْحَدِيثَ

عبد الله بن شقیق وائی چه زهٔ په فارس کښې بیمار شوے وم او په ناستے به م مونځ کولو بیا چه هر کله مدینے ته راغلم د حضرت عائشے نه مے تپوس اوکړو هغے اوفرمایل چه رسول الله ﷺ به د لوئے شپے پورے مونځ په ناستے کولو. او د آخره پورے حدیث ئے ذکر کړو (یعنی کوم چه پورته ذکر شو)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا وَلَيْلًا طَوِيلًا قَاعِدًا وَكَانَ إِذَا قَرَأَ قَائِمًا رَكَعَ قَائِمًا وَإِذَا قَرَأَ قَاعِدًا رَكَعَ قَاعِدًا

عبد الله بن شقیق عقیلی وائی چه ما د اُمُ المؤمنین عائشے نه د رسول الله ﷺ د مانځهٔ په باره کښې تپوس اوکړو. نو هغوی اوفرمایل چه رسول الله ﷺ به اکثر په ولاړه هم مونځ کولو. او اکثر په ناستے باندے هم بیا چه کله به ئے شروع په ولاړه اوکړه. نو رکوع به ئے هم په ولاړه کوله او کله چه به ئے شروع په ناستے اوکړه نو رکوع به ئے هم په ناستے کوله

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي شَيْءٍ مِنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ جَالِسًا حَتَّى إِذَا كَبِرَ قَرَأَ جَالِسًا حَتَّى إِذَا بَقِيَ عَلَيْهِ مِنَ السُّورَةِ ثَلَاثُونَ أَوْ أَرْبَعُونَ آيَةً قَامَ فَقَرَأَهُنَّ ثُمَّ رَكَعَ

حضرت عائشه فرمائی. نهٔ دے لیدلے ما رسول الله ﷺ لره چه قرأت ئے کولو په مانځهٔ کښې په ناستے. بیا چه کله بوډا شو نو په ناستے به ئے قرأت کولو. تر دے پورے چه که به پاتے شو په سورة کښې دیرش یا څلویښت آیتونه نو پاسیدلو به. هغه به ئے په ولاړه اولوستل. او بیا به ئے رکوع اوکړه[1].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي جَالِسًا فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ مَا يَكُونُ ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً قَامَ فَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ يَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ

د مسلمانانو مور حضرت عائشے نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به مونځ کولو په ناستے سره او قرأت به ئے پکښې په ناستے کولو. بیا چه به کله پاتے شول دیرش یا څلویښت آیتونه نو اودریدو به قراءت به ئے کولو. بیا به ئے رکوع اوکړه او سجده به ئے اوکړه. بیا به ئے په دویم رکعت کښې هم دغه شان کولو[2].

---

[1] د دے نه ثابته شوه چه یو رکعت کښې به څهٔ په ناستے کولو او څهٔ په ولاړه.

[2] بیان د حکم د مخالفت د قیاس په حدیث سره:

د دواړو روایتونو نه په یو رکعت کښې څهٔ لږ اودریدل او څهٔ لږ کیناستل ثابتشو. او دا جائز دی. د امام شافعی او امام مالک او امام ابوحنیفه رحمهم الله په نز او د عامو علماؤ په مخکښې برابر دی. که ورومبے ولاړ وی بیا کینی. یا ورمبے ناست وی بیا اودریږی. او بعضے

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ وَهُوَ قَاعِدٌ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ إِنْسَانٌ أَرْبَعِيْنَ آيَةً

اُمُّ المؤمنین عائشہؓ فرمائی چہ رسول اللہ ﷺ بہ پہ ناسے قرأت کولو. بیا چہ بہ ئے ہر کلہ ارادہ اوکڑہ د رکوع کولو نو اودریدو بہ دومرہ وخت چہ بندہ پہ ھغے کبنں څلویښت آیتونہ لوستے شول (یعنی بیا بہ ئے رکوع کولہ)

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ كَيْفَ كَانَ يَصْنَعُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ قَالَتْ كَانَ يَقْرَأُ فِيْهِمَا فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ

علقمہ د حضرت عائشےؓ نہ د نبی کریم ﷺ د دوہ رکعتہ (د شپے) سوال اوکڑو نو ھغوی اوفرمایل چہ پہ ناستے بہ ئے ادا کولو. بیا چہ بہ ئے کلہ ارادہ اوکڑہ چہ رکوع اوکڑم. نو اودریدو بہ بیا بہ ئے رکوع اوکڑلہ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيْقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ هَلْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَهُوَ قَاعِدٌ قَالَتْ نَعَمْ بَعْدَ مَا حَطَمَهُ النَّاسُ

عبداللہ بن شقیق د حضرت عائشے نہ تپوس اوکڑو چہ رسول اللہ ﷺ بہ چرتہ پہ ناستے مونځ کولو؟ ھغوی اوفرمایل چہ آو. کلہ چہ خلقو ھغۀ لرہ بوډا کڑو (یعنی د ھغوی د فکرونو)

عَنْ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَمُتْ حَتَّى كَانَ كَثِيْرٌ مِنْ صَلَاتِهِ وَهُوَ جَالِسٌ

حضرت عائشہؓ فرمائی. چہ د نبی کریم ﷺ انتقال نۀ وو شوے ترھغے پورې چہ کول بہ ھغۀ زیات مونځونہ پہ ناستے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا بَدَّنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَثَقُلَ كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ جَالِسًا

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ فرمایلی دی چہ کلہ د رسول اللہ ﷺ بدن غټ شو. او دروند شو نو اکثر بہ ئے پہ ناستے مونځ کولو.

عَنْ حَفْصَةَ أَنَّهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا حَتَّى كَانَ قَبْلَ وَفَاتِهِ بِعَامٍ فَكَانَ يُصَلِّي فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا وَكَانَ يَقْرَأُ بِالسُّوْرَةِ

حضرت حفصےؓ فرمایلی دی. چہ ما نۀ دے لیدلے چہ رسول اللہ ﷺ نفل کړی وی پہ ناستے تردے پورے چہ د ھغۀ د وفات نہ یو کال مخکبنں ھغۀ پہ ناستے سرہ نفل شروع کړو. او سورۃ بہ ئے لوستلو تردے پورے چہ پہ دمہ دمہ بہ ئے لوستلو څکہ چہ ھغہ سورۃ بہ د

سلفو دے لرہ منع کړے دہ. مګر د ھغوی منع کول غلط دی. او قاضی عیاض رحمہ اللہ د ابویوسف او امام محمد رحمہما اللہ شاګردانو د ابوحنیفہ رحمہ اللہ او د نورو فقھاؤ نہ نقل کړے دے. چہ رومبے ولاړ وی بیا کیناستل مکروہ دی. او کۀ چرے نیت ئے د ولاړے کړے وی خو بیا کینی نو د شافعیو او جمھورو پہ نزد جائز دی. او ابن قاسم مالکی رحمہ اللہ ھم دے تہ جائز وائی. او أشھب منع کوی.

د اردو کتاب (مترجم وائی چہ د ناستی نہ اودریدل او د ولاړے نہ کیناستل دواړہ پہ احادیث صحیحہ کبنں وارد شوی دی. بیا منع کول د یو کس سراسر خلاف دی او قابل التفات نۀ دی. څکہ چہ شرع ھغہ دہ کومہ چہ د نبی کریم نہ ثابتہ وی نہ رائے او قیاس د چا بیا خاص کر چہ مخالف د نبی صلی اللہ علیہ وسلم وی. اګر کۀ ټول جھان د ھغے قائل ولے نۀ وی)

فَيُرَتِّلُهَا حَتَّى تَكُونَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلَ مِنْهَا

اوږد نه اوږد وو.

مسلم ويلي دي. روايت كړے دے مونږ ته ابوالطاهر او حرمله د هغې دواړو نه ابن وهب او د هغهٔ نه يونس. او روايت كړے دے مونږ ته اسحاق او عبد ابن حميد دد ے دواړو نه عبد الرّزاق د هغهٔ نه معمر او د هغې تولو نه زهري دد ے سند سره په مثل د هغې مگر د ے دواړو ويلي دي چه هر كله د هغهٔ وفات ته يو كال يا دوه كاله پاتې شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَمُتْ حَتَّى صَلَّى قَاعِدًا

جابر بن سمرهؓ ويلي دي چه د نبي كريم ﷺ انتقال نه وو شوے د كومے پورے چه هغه په ناستے مونځ نۀ وو كړے. (يعني كولو ئے)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ حُدِّثْتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلَاةِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي جَالِسًا فَوَضَعْتُ يَدِي عَلَى رَأْسِهِ فَقَالَ مَا لَكَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو قُلْتُ حُدِّثْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَّكَ قُلْتَ صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا عَلَى نِصْفِ الصَّلَاةِ وَأَنْتَ تُصَلِّي قَاعِدًا قَالَ أَجَلْ وَلَكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ

عبدالله بن عمروؓ ويلي دي ما ته چا اووے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي. چه په ناستے مونځ كول د نيم مانځهٔ برابر دي. نو زهٔ د هغهٔ خواله راغلم او هغه م اوموندو چه هغهٔ په ناستے مونځ كولو. او ما د هغهٔ په سر باندے لاس كيښودو. هغهٔ اوفرمايل څهٔ دي اے عبد الله ! ما اووے چه يا رسول الله ﷺ تا فرمايلي دي چه په ناسے مونځ كول د نيم مونځ برابر دے. او تاسو په ناستے مونځ كوے. حضرتؐ اوفرمايل چه آو رښتيا دي. مگر زهٔ ستاسو خلقو برابر نۀ يم[1].

بَابُ صَلَاةِ اللَّيْلِ وَعَدَدِ رَكَعَاتِ النَّبِيِّ ﷺ فِي اللَّيْلِ وَأَنَّ الْوِتْرَ رَكْعَةٌ وَأَنَّ الرَّكْعَةَ صَلَاةٌ صَحِيحَةٌ

باب : د شپے د مانځهٔ ، د هغے د ركعتونو شمار او د وترو د يو كيدو بيان. او دد ے خبرے بيان چه يو ركعت صحيح مونځ د ے

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بِاللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ

أُمّ المؤمنين حضرت عائشےؓ فرمايلي دي. چه رسول الله ﷺ به هميشه د شپے يولس ركعتونه ادا كول. او په هغے كښې به يو ركعت

[1] يعني هغهٔ ﷺ ته په ناستے مانځهٔ ادا كولو كښې هم هغه شان ثواب دے لكه چه په ولاړے په نفلو ادا كولو كښې. او دا د هغهٔ د خصائصو نه دے. يا د څهٔ عذر په سبب سره كهٔ چرے كيني نو معذور لره پوره ثواب دے. مگر دا قول د هغهٔ په خصائص زيات دليل دے. والله اعلم بالصواب

رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ فَإِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ

د وترو وو. هر کله چه به فارغ شو د هغې نه نو په ښیځ ډډه به څملاستو. تردې پورې چه مؤذن به راغې. نو دوه رکعته به ئې لنډ اوکړل

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ وَهِيَ الَّتِي يَدْعُو النَّاسُ الْعَتَمَةَ إِلَى الْفَجْرِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُسَلِّمُ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَتَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ وَجَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ

اُمُّ المؤمنین د نبی ﷺ بی بی حضرت عائشې رضی فرمایلی دی چه رسول الله ﷺ به د ماسختن د مانځهٔ نه پس د سحره پورې یولس رکعتونه کول. او هر دوه رکعته پس به ئې سلام ګرځوو. او یو رکعت به ئې وتر کولو. بیا چه به هر کله مؤذن اذان اوکړو د سحر. او ظاهر به شو په هغهٔ صبا. او مؤذن به راغې. نو اودریدو به دوه رکعته به ئې لنډ ادا کړل. بیا به په ښیځ ډډه څملاستو تردې پورې چه مؤذن به تکبیر کولو له راغې

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْ ذَلِكَ بِخَمْسٍ لَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ إِلَّا فِي آخِرِهَا

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشې نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به د شپې دیارلس رکعته کول. پنځهٔ به په هغې کښې وتر وو چه نهٔ به کیناستو مګر د هغې په آخر کښې[1]

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً بِرَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشې فرمایلی دی چه رسول الله ﷺ به دیارلس رکعته کول سره د سحر د دوو سنتو

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ كَيْفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ قَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيْرِهِ

ابی سلمه بن عبد الرحمٰن د حضرت عائشې نه د رسول الله ﷺ د رمضان د مانځهٔ په باره کښې تپوس اوکړو. نو هغوی اوفرمایل چه رسول الله ﷺ به د یولسو رکعتو نه زیات نهٔ کول. کهٔ رمضان به وو یا غیر رمضان. څلور رکعاته به ئې داسې کول چه د هغې د حُسن او

[1] وتر د یو رکعت نه واخله د یولسو او دیارلسو رکعتونو پورې جائز او مسنون دی. مګر غوره دغه ده چه هر دوه رکعته پس سلام اوګرځولې شي حالانکه د ټولو رکعتونو په آخر کښې یو سلام ګرځول هم روادی. مګر مشهور هغه دې په دوه دوه رکعته باندې سلام اوګرځولې شي

مسلم ویلي دي روایت کړې مونږ ته ابوبکر هغهٔ ته عبده او روایت کړې دې مونږ ته ابو کریب دواړو ویلي دي روایت کړې دې مونږ ته وکیع او ابو اسامه رضي الله عنه روایت کړې دې د هشام نه د دې اسناد سره.

عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثًا فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي

اوږد والي څۀ تپوس مۀ کوه. بیا به ئے څلور رکعاته اوکړل چه د هغې د حُسن او او اوږد والي څۀ تپوس مکوه. بیا به ئے درے رکعته اوکړل (یعني وتر). بیا حضرت عائشه وائي چه ما اووے. یا رسول الله! ولے تاسو دوترونه مخکښ اوده کیږئ: هغۀ اوفرمایل اے عائشې! څما سترګے اوده کیږي او زړۀ مې نۀ اوده کیږي[1]

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّي ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي ثَمَانَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ يُوتِرُ ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَيْنَ النِّدَاءِ وَالْإِقَامَةِ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ

ابوسلمه د حضرت عائشې نه د رسول الله ﷺ (د شپې) د مانځۀ په باره کښې تپوس اوکړو. نو هغوی اوفرمایل. چه دیارلس رکعته به ئے لوستل د اتو رکعتونو نه پس به ئے بیا وتر کول بیا به ئے دوه رکعته اوکړل په ناستې. او کله چه به ئے اراده کوله د رکوع نو اودریدو به او رکوع به ئے اوکړه. بیا به ئے د سحر د اذان او د تکبیر په مینځ کښې دوه رکعته اوکړل[2].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي لَبِيدٍ سَمِعَ أَبَا سَلَمَةَ قَالَ أَتَيْتُ عَائِشَةَ فَقُلْتُ أَيْ أُمَّهْ أَخْبِرِينِي عَنْ

عبد الله بن لبید د ابوسلمه نه اوریدلی دی. چه هغه د مؤمنانو د مور حضرت عائشې په خدمت کښې لاړو او عرض ئے اوکړو. اے څما مور!

---

[1] ددے حدیث نه استدلال کړے دی شافعیو په دے چه قراءت اوږدول غوره دی. د ډیرو رکوع او سجدو کولو نه. او دا د خصائص انبیاؤ علیهم السلام نه دے چه په خوب ئے اودس نۀ ماتیږي او بعضو اعتراض کړے دی چه هغه په وادئ کښې اودۀ شوے وو. او مونځ تر قضا شوے وو. بیا دا څنګه کیدے شی. او جواب د هغې داسے ئے ورکړے دے. چه راختل د نمر د سترګو سره متعلق دی په خلاف د حدیث چه هغه د زړۀ سره متعلق دے.

[2] ددے حدیث د ظاهر نه تمسک کړے دے اوزاعي او احمد رحمهم الله لکه چه قاضي عياض ددے دواړو نه نقل کړے دے. چه هغوی د وترو نه پس دوه رکعته په ناستے کولو ته مباح ویلی دی. او د امام احمد رحمه الله نه دا هم مروی دے. چه زۀ دے لره نۀ کوم او نۀ تر نۀ منع کوم. او امام مالک رحمه الله ددے نه انکار کړے دے. او صواب دا دے چه دوه رکعتونه هغه کړی دی روستو د وترو نه په ناستے سره ددے دپاره چه معلومه شی چه مونځ روستو د وترو نه جائز دے. مګر په دے باندے هغۀ همیش والے نۀ دے کړے. کله کله ئے کړی دی. او کله ئے نۀ دی کړی. او یو سړے د کَانَ لفظ نه د همیشوالی خیال نۀ کوی. ځکه چه دا لفظ صرف د یو فعل په وقوع دلالت کوی چه د ماضي په زمانه کښې واقع شوے وی. چنانچه په دویم روایت کښې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللهِ لِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ یعني ما به خوشبوئي لګوله د رسول الله ﷺ د احرام د کھولاویدو په وخت مخکښې د طواف افاضه نه حالانکه ظاهره ده چه د حضرت عائشې د صحبت نه پس حضرت صلی الله علیه وسلم بس یو خل حج کړے دے. یعنی حجة الوداع. او په ډیرو روایتونو کښې راغلی دی چه آخری مونځ د هغۀ د شپې وتر وو. پس یقین اوشو چه دا دوه رکعته ئے چرته همیشه کړی نۀ دی

صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كَانَتْ صَلَاتُهُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ وَغَيْرِهِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً بِاللَّيْلِ مِنْهَا رَكْعَتَا الْفَجْرِ

مالہ خبر راکړه د رسول اللهﷺ په مانځهٔ باندے. پس هغے اوفرمایل چه د هغهٔ مونځ په رمضان وغیره کښې د شپے په وخت دیارلس رکعته وو. او په هغے کښې دوه رکعتونه د سحر د سنتو هم وو.

عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُوْلُ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ عَشْرَ رَكَعَاتٍ وَيُوْتِرُ بِسَجْدَةٍ وَيَرْكَعُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَتِلْكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً

قاسم بن محمدؒ وئیلی دی چه ما د مسلمانانو د مور حضرت عائشےؓ نه اوریدلی دی. چه د رسول اللهﷺ د شپے مونځ لس رکعته وو. او یو رکعت د وترو وو. او دوه رکعتونه د سحر د سنتو وو. دا ټول دیارلس رکعتونه شول.

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ سَأَلْتُ الْأَسْوَدَ بْنَ يَزِيْدَ عَمَّا حَدَّثَتْهُ عَائِشَةُ عَنْ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ يَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ وَيُحْيِي آخِرَهُ ثُمَّ إِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى أَهْلِهِ قَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ يَنَامُ فَإِذَا كَانَ عِنْدَ النِّدَاءِ الْأَوَّلِ قَالَتْ وَثَبَ وَلَا وَاللهِ مَا قَالَتْ قَامَ وَأَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ وَلَا وَاللهِ مَا قَالَتْ اغْتَسَلَ وَأَنَا أَعْلَمُ مَا تُرِيْدُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ جُنُبًا تَوَضَّأَ وُضُوْءَ الرَّجُلِ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ صَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ

ابی اسحٰق وئیلی دی چه تپوس اوکړو ما د اسود بن یزید نه د هغه حدیثونو په باره کښې چه د حضرت عائشےؓ نه هغوی اوریدلی وی د رسول اللهﷺ د مانځهٔ په مقدمه کښې. نو هغوی اووے چه حضرت عائشےؓ فرمایلی دی. چه هغهٔ به اودهٔ کیدو د شپے په اوله حصه کښې او ویخودو به د شپے په آخره حصه کښې بیا کهٔ چرے هغهٔ ته به حاجت وو د خپلو بیبیانو نه. نو حاجت روا به ئے اوکړو بیا به اودهٔ شو. بیا چه به کله رومبے اذان اوشو (یعنی د سحر د وخت اذان) نو نیغ به پاسیدو. او په خدائے مې د قسم وی چه هغے دا نهٔ وی وئیلی چه پاسیدو به او بیا به ئے په ځان اوبهٔ واچولے. او قسم په خدائے چه هغے دا نهٔ دی وئیلی چه اوبه ئے لامبل (یعنی کوم لفظ چه هغے فرمایلے دے هغه ماته یاد دے) او زهٔ پر بنهٔ پوهه یم کوم چه د هغے مراد دے (خو دائے ددے دپاره اووے چه د شرم خبره ده) او کهٔ چرے جنب به نهٔ وو. نو اودس به ئے اوکړو. لکه چه خلق د مانځهٔ دپاره اودس کوی او بیا به ئے دوه رکعته اوکړل (یعنی د سحر سنت).

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ عَنِ الْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي

ابی اسحٰق د اسود نه راوی دے. هغه د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه چه هغوی فرمایلی دی چه رسول اللهﷺ به د شپے مونځ

مِنَ اللَّيْلِ حَتَّى يَكُونَ آخِرَ صَلَاتِهِ الْوِتْرُ

کولو تردے پوری چه په آخر کښې به وتر وو[۱].

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ عَمَلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كَانَ يُحِبُّ الدَّائِمَ قَالَ قُلْتُ أَيَّ حِينٍ كَانَ يُصَلِّي فَقَالَتْ كَانَ إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ قَامَ فَصَلَّى

مسروق وېلي دي چه ما د حضرت عائشےؓ نه د رسول اللهﷺ د عمل په باره کښې تپوس اوکړو. هغےؓ اوفرمايل چه هغهؑ به د هميشه عمل لره خوښولو. ما اووے هغهٔ به څهٔ وخت مونځ کولو؟ هغے اووے. کله چه به ئے د چرګ بانګ واوريدو. نو پاسيدو به مونځ به ئے کوو[۲].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا أَلْفَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّحَرُ الْأَعْلَى فِي بَيْتِي أَوْ عِنْدِي إِلَّا نَائِمًا

أُمُّ المؤمنين حضرت عائشےؓ فرمايلي دي چه ما رسول اللهﷺ سره هميشه په خپل کور کښې يائے فرمايلي دي د خپل ځان سره اودهٔ موندلے دے (يعني د تهجدو نه پس به اودهٔ کيدو)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً حَدَّثَنِي وَإِلَّا اضْطَجَعَ

د أُمُّ المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ چه به کله د سحر سنت اوکړل نو زهٔ که به چرے ويخه وم نو ما سره به ئے خبرے کولے نه به اودهٔ کيدهٔ. کچرے اودهٔ به وم نو بيا به سملاستهٔ.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ فَإِذَا أَوْتَرَ قَالَ قُومِي فَأَوْتِرِي يَا عَائِشَةُ

أُمُّ المؤمنين حضرت عائشهؓ فرمائي. چه رسول اللهﷺ چه به کله تهجد او وتر اوکړل نو ما ته به ئے اوفرمايل. پاسه وتر اوکړه اے عائشےؓ[۱].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي صَلَاتَهُ بِاللَّيْلِ وَهِيَ مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَ يَدَيْهِ فَإِذَا بَقِيَ الْوِتْرُ أَيْقَظَهَا فَأَوْتَرَتْ

أُمُّ المؤمنين حضرت عائشےؓ به فرمايل چه رسول اللهﷺ به د شپے مونځ کولو او هغه به د پردے مخے ته اوده وه. بيا چه کله به ورته وتر پاتے وو حضرتؑ به هغے لره ويخه کړه. هغے به وتر اوکړل[۳].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ قَدْ أَوْتَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْتَهَى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ

حضرت عائشےؓ فرمايلي دي چه رسول اللهﷺ وتر په اول د شپے کښې او په مينځ کښې او په آخر د شپے کښې په ټولو وختونو کښې ادا کړي دي. تردے پورے چه په شپږمه آخره حصه د شپے کښې هم.

---

[۱] ددے نه معلومه شوه چه د وترو نه پس ئے دوه رکعته هميشه نهٔ کول لکه چه مونږ پورته ذکر کړي دي.

[۲] چرګ اکثر د نيمے شپے نه پس اذانونه شروع کوي.

[۳] ددے روايتنو نه معلومه شوه. چه وتر د شپے په آخره حصه کښې ادا کول مستحب دي. خواه کهٔ بنده تهجد کوي يا نهٔ کوي. مګر دا يقين لري چه زهٔ به د شپے په آخره حصه کښې ضرور پاسم.

عَنْ قَتَادَةَ عَنْ زُرَارَةَ أَنَّ سَعْدَ بْنَ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ أَرَادَ أَنْ يَغْزُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ فَأَرَادَ أَنْ يَبِيعَ عَقَارًا لَهُ بِهَا فَيَجْعَلَهُ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ وَيُجَاهِدَ الرُّومَ حَتَّى يَمُوتَ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ لَقِيَ أُنَاسًا مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ فَنَهَوْهُ عَنْ ذَلِكَ وَأَخْبَرُوهُ أَنَّ رَهْطًا سِتَّةً أَرَادُوا ذَلِكَ فِي حَيَاةِ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَهَاهُمْ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ أَلَيْسَ لَكُمْ فِيَّ أُسْوَةٌ فَلَمَّا حَدَّثُوهُ بِذَلِكَ رَاجَعَ امْرَأَتَهُ وَقَدْ كَانَ طَلَّقَهَا وَأَشْهَدَ عَلَى رَجْعَتِهَا فَأَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ فَسَأَلَهُ عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَلَا أُدُلُّكَ عَلَى أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ بِوِتْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ عَائِشَةُ فَأْتِهَا فَاسْأَلْهَا ثُمَّ ائْتِنِي فَأَخْبِرْنِي بِرَدِّهَا عَلَيْكَ فَانْطَلَقْتُ إِلَيْهَا فَأَتَيْتُ عَلَى حَكِيمِ بْنِ أَفْلَحَ فَاسْتَلْحَقْتُهُ إِلَيْهَا فَقَالَ مَا أَنَا بِقَارِبِهَا لِأَنِّي نَهَيْتُهَا أَنْ تَقُولَ فِي هَاتَيْنِ الشِّيعَتَيْنِ شَيْئًا فَأَبَتْ فِيهِمَا إِلَّا مُضِيًّا قَالَ فَأَقْسَمْتُ عَلَيْهِ فَجَاءَ

قتاده د زُراره نه روایت کړے دے. چه سعد بن هشام بن عامر غوښتل چه د الله ﷻ په لاره کښې جهاد اوکړی او مدینے ته راغے. او غوښتل ئے چه خپل باغ او زمکه خرڅه کړی. او په هغے باندے وسله او اسونه واخلی. او د نصراؤ سره د مرګیدو د وخت پورے جنګ اوکړی بیا چه کله مدینے ته راغے او د مدینے والاؤ سره میلاؤ شو. نو هغوی هغهٔ لره منع کړو (یعنی بالکل ددنیا کاروبار او ضروریات انسانی پریخودل نهٔ دی پکار) او خبر ئے ورکړو چه شپږو سړو ددے اراده کړے وه د نبی ﷺ په ژوند کښې نو هغه هغوی لره منع کړل او ورته ئے اوفرمایل چه ستاسو دپاره څما لاره بنه نهٔ ده. کله چه خلقو هغهٔ ته دا اووے نو هغه ښځے ته رجوع اوکړه (یعنی چه هغے له ئے طلاق ورکړی وو) او هغے ته ئے طلاق ورکړے وو. او هغے ته په واپسئ باندے ئے خلقو لره ګواه کړل. بیا هغه د ابن عباس رضی الله عنه خواله راغے او د هغهٔ نه ئے د رسول الله ﷺ د وترو د حال تپوس اوکړو. هغوی اووے. زهٔ تاته داسے بنده بنایم چه هغه د تولے زمکے د خلقو نه د رسول الله ﷺ د وترو په حال ښهٔ پوهه دے. هغوی اووے هغه څوک دے؟ ابن عباس رضی الله عنه اووے. حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها. اُوس تهٔ د هغے خواله لاړ شه او د هغے نه تپوس اوکړه. بیا څما خواله راشه او د هغے د جواب نه ما خبر کړه. بیا زهٔ په هغے پسے روان شوم او د حکیم بن افلح خواله راغلم او د هغهٔ نه م غوښتل چه هغه ما د حضرت عائشے رضی الله عنها خواله بوځی. هغوی اووے چه زهٔ د هغے خواله نهٔ ځم ځکه چه ما هغے لره منع کړے وه چه هغه به ددے دوارو ډلو په مینځ کښې څهٔ نهٔ وائی (یعنی د صحابو د جهګړو په مینځ کښې) مګر هغوی او نهٔ منل او لاړه. زراره وائی چه ما حکیم لره قسم ورکړو. غرض دا چه هغه راغے او مونږ ټول د حضرت عائشے رضی الله عنها په طرف لاړو او هغے ته مو

فَانْطَلَقْنَا إِلَى عَائِشَةَ فَاسْتَأْذَنَّا عَلَيْهَا فَأَذِنَتْ لَنَا فَدَخَلْنَا عَلَيْهَا فَقَالَتْ أَحَكِيمٌ فَعَرَفَتْهُ فَقَالَ نَعَمْ فَقَالَتْ مَنْ مَعَكَ قَالَ سَعْدُ بْنُ هِشَامٍ قَالَتْ مَنْ هِشَامٌ قَالَ ابْنُ عَامِرٍ فَتَرَحَّمَتْ عَلَيْهِ وَقَالَتْ خَيْرًا قَالَ قَتَادَةُ وَكَانَ أُصِيبَ يَوْمَ أُحُدٍ فَقُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ قُلْتُ بَلَى قَالَتْ فَإِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ قَالَ فَهَمَمْتُ أَنْ أَقُومَ وَلَا أَسْأَلَ أَحَدًا عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أَمُوتَ ثُمَّ بَدَا لِي فَقُلْتُ أَنْبِئِينِي عَنْ قِيَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ أَلَسْتَ تَقْرَأُ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُلْتُ بَلَى قَالَتْ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ افْتَرَضَ قِيَامَ اللَّيْلِ فِي أَوَّلِ هَذِهِ السُّورَةِ فَقَامَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ حَوْلًا وَأَمْسَكَ اللَّهُ خَاتِمَتَهَا اثْنَيْ عَشَرَ شَهْرًا فِي السَّمَاءِ حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ فِي آخِرِ هَذِهِ السُّورَةِ التَّخْفِيفَ فَصَارَ قِيَامُ اللَّيْلِ تَطَوُّعًا بَعْدَ فَرِيضَةٍ قَالَ قُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ

اطلاع ورکړه. هغوی اجازت راکړو او مونږ تول د هغې په خدمت کښې حاضر شو. بیا هغوی اوفرمایل. آیا دا حکیم دے؟ هغوی اووے آو. غرض دا چه حضرت عائشې هغهٔ لره اوپیژندو (یعنی په آواز وغیره سره د پردے د شا نه) بیا هغوی اوفرمایل. چه تا سره څوک دے؟ حکیم اووے څما سره سعد بن هشام دے. هغوی اوفرمایل هشام څوک دے؟ حکیم اووے د عامر ځوئ دے. بیائے په هغهٔ باندے ډیره مهربانی اوکړه. او قتاده ویلی دی چه هغه په جنګ اُحد کښې شهید شوے وو. بیا ما عرض اوکړو چه اے د مسلمانانو مور! ما د رسول الله ﷺ د اخلاقو نه خبر کړه. هغوی اوفرمایل ولے تا قران نهٔ دے لوستلے؟ ما اووے. ولے نهٔ دے. هغوی اوفرمایل. چه د حضرت ﷺ خُلق دغه وو. چه د هغې په قران کښې حُکم دے. هغوی اووے. بیا ماد تلو اراده اوکړه او او غوښتل م چه د مرګ د وخته اوس د چا نه د څهٔ څیز تپوس اونهٔ کړم. بیا ما ته خیال راغے. نو ما عرض اوکړو چه خبر کړه ما د رسول الله ﷺ د شپے د پاسیدو نه بیا هغوی اوفرمایل ولے تا یَا أَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ نهٔ دے لوستے. ما اووے ولے نهٔ دے. اوئے فرمایل. چه الله پاک فرض کړې دی د شپے په ولاړے لوستلو لره دد ے سورت په اول کښې. بیا نبی ﷺ او د هغهٔ ټولو یارانو به د شپے مونځ لره کولو. او الله تعالی دد ے سورة خاتمه د دولسو میاشتو پورې په آسمان باندے منع اوساتله تر دے پورے چه الله تعالی دد ے سورة آخر نازل کړو. او په هغې کښې ئے تخفیف اوفرمایل (یعنی د تهجدو فرضیت ئے معاف کړو او مسنون کیدل ئے باقی پاتے شو) بیا شو د شپے مونځ کول د خوشحالۍ سودا روستو د هغې نه چه فرض وه. بیا ما عرض اوکړو اے د مسلمانانو مور! خبر راکړه ما لره د رسول الله ﷺ د وتر د مونځ. بیا

أَنْبِئِينِي عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كُنَّا نُعِدُّ لَهُ سِوَاكَهُ
وَطَهُورَهُ فَيَبْعَثُهُ اللهُ مَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهُ
مِنَ اللَّيْلِ فَيَتَسَوَّكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي
تِسْعَ رَكَعَاتٍ لَا يَجْلِسُ فِيهَا إِلَّا فِي
الثَّامِنَةِ فَيَذْكُرُ اللهَ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ
ثُمَّ يَنْهَضُ وَلَا يُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّ
التَّاسِعَةَ ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ اللهَ وَيَحْمَدُهُ
وَيَدْعُوهُ ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا ثُمَّ
يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِدٌ
وَتِلْكَ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ فَلَمَّا
سَنَّ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَأَخَذَهُ اللَّحْمُ أَوْتَرَ بِسَبْعٍ وَصَنَعَ فِي
الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيعِهِ الْأَوَّلِ فَتِلْكَ
تِسْعٌ يَا بُنَيَّ وَكَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَحَبَّ أَنْ
يُدَاوِمَ عَلَيْهَا وَكَانَ إِذَا غَلَبَهُ نَوْمٌ أَوْ
وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ
ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً وَلَا أَعْلَمُ نَبِيَّ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ الْقُرْآنَ كُلَّهُ فِي
لَيْلَةٍ وَلَا صَلَّى لَيْلَةً إِلَى الصُّبْحِ وَلَا
صَامَ شَهْرًا كَامِلًا غَيْرَ رَمَضَانَ قَالَ
فَانْطَلَقْتُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَحَدَّثْتُهُ

هغوی اوفرمایل چه مونږ به د هغهٔ دپاره د اودس اوبهٔ او مسواک تیار ایخودے وو. او الله تعالی چه به هغهٔ لره کله غوښتو نو د شپے به ئے پورته کولو. بیا به هغهٔ مسواک کولو. او اودس به ئے اوکړو بیا به هغهٔ نهه رکعته اوکړل چه نهٔ به کیناستو هغے کښې مګر د اتم رکعت نه پس او یاد وو به ئے الله تعالی لره او د هغهٔ حمد به ئے کو او دُعا به ئے کوله (یعنی تشهد به ئے لوستول) بیا به اودریدو او سلام به ئے نهٔ ګرځولو او نهم رکعت به ئے اوکړهٔ. بیا به کیناستو او الله تعالی به ئے یاد کړي او د هغهٔ تعریف به ئے اوکړو. او د هغهٔ نه به ئے دُعا اوغوښتله او په دے شان به ئے سلام اوګرځولو چه مونږ ته به ئے واورو (دد ے دپاره چه اوده ویخ شی او پاسی) بیا به ئے دوه رکعته په ناستی ناستی ورستو د سلام نه ادا کړل غرض دا یولس رکعتونه شو. اے ځما خویه! بیا چه هر کله د هغهٔ عمر زیات شو او په بدن کښې ئے غوښه راغله نو اووه رکعته وتر ئے کول شروع کړل او دوه رکعتونه ئے هغه شان کول لکه چه پورته مونږ بیان کړل غرض دا ټول نهه رکعتونه شول اے ځما خویه (یعنی اووه د وترو او تهجدو او دوه روستو ذ وترو نه) او د هغهٔ عادت مبارك وو چه کله به ئے څهٔ مونځ کولو نو په هغے باندے به ئے همیشه والے کولو. او کله چه به په هغهٔ باندی د خوب یا د څهٔ درد غلبه راغله او د شپے به پانسیدهٔ نو د ورځے به ئے دولس رکعته کول (یعنی وتر به ئے نه کول) او ماته علم نشته چه چرته نبی ﷺ ټول قرآن په یوه شپه کښې لوستلے وی. (دد ے نه هم نهٔ یم خبر چه ټوله شپه ئے لوستے دے د سحره پورے (یعنی چه لږ هم نهٔ وی اوده شوے نهٔ ئے آرام کړے وی) او نهٔ دا چه ټوله میاشت ئے روژه نیولے ده سوا د رمضان نه بیا زهٔ د ابن عباسؓ خواله لاړم. او دا ټول حدیث م ورته بیان کړو. هغوی اوو ے چه بیشکه حضرت

بِحَدِيثِهَا فَقَالَ صَدَقَتَ لَوْ كُنْتُ أَقْرَبُهَا أَوْ أَدْخُلُ عَلَيْهَا لَأَتَيْتُهَا حَتَّى تُشَافِهَنِي بِهِ قَالَ قُلْتُ لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكَ لَا تَدْخُلُ عَلَيْهَا مَا حَدَّثْتُكَ حَدِيثَهَا

عائشے رښتيا اوفرمايل او اوئے ويل كۀ چرے زۀ د هغې سره وے. يا تلے وے. نو دا ټول به م مخامخ اوريدلي وو. زُراره اووے كۀ چرے ماته معلومه وے چه تۀ د هغې خواله نۀ ځې نو ما به چرته د هغې خبره تا ته نۀ وے كړے[1].

عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى أَنَّ سَعْدَ بْنَ هِشَامٍ كَانَ جَارًا لَهُ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ

د زُراره بن اوفی نه روايت دے چه سعد بن هشام د هغۀ ګاونډي وو. پس هغی وخبر ورکړو چه طلاق ورکړو هغۀ خپلے ښځے لره او حديث ئے بيان کړو لکه چه د سعيد روايت دے. او په دے کښں دا هم دي چه

---

[1] په دے حديث کښں ډیرے فائدے دي:

اوله دا چه حضرت عباس حضرت عائشے صديقے لره اوښودله چه تۀ د هغې نه د وترو د حال تپوس اوکړه. دد ے نه معلومه شوه چه عالم لره مستحب دي. چه که څوک د خپل خان نه زيات ګنړي. نو تپوس کولو والا د هغۀ په طرف اوليږي. په دے کښں د دين خير خواهي او د سوال کولو والا غوره والے دے.

دويمه دا چه حضرت عائشے صديقے چه کوم جواب ورکړه چه خُلق د حضرت رسول الله ﷺ قران وو. دد ے نه اوچت شان او زيات والے د علم. او زيات والے د عقل او تکاثر ادراک د حضرت أم المؤمنين معلوميږي. چه څومره لوئے درياب لره ئے په کوزه کښں بند کړو او د هغۀ د خُلق ئے داسے جامع تعريف اوکړو. چه د سوال کولو والا خيال شو. چه اوس به ټول عمر د چا نه په دے باره کښں سوال نۀ کوم سبحان الله ولے به نۀ وي آخر محبوبه د محبوب خدا ده رضى الله تعالى عنها وَعَن اتباعِهَا وَخُدامِهَا.

دريمه دا چه ئے کوم اوفرمايل چه تهجد فرض وو بيا د خوشحالۍ سودا اوشوه. دد ے نه معلومه شوه چه په حضرت ﷺ باندے په دے او په دے أمت باندے په ټولو نفل شو. مګر د أمت په نفل کيدو کښں خو اجماع ده. او د نبی صلى الله عليه وسلم دپاره د شافعيو په يو قول فرضيت ساقط شو.

څلورمه دا چه کله به تهجد قضاء شول نو سحر به ئے ادا کول. دد ے نه ثابته شوه. چه په اوراد او وظائفو کښں ډير احتياط کول ضروري دي.

پنځم دا چه ثابته شوه چه وتر په قضا نۀ ادا کوے.

مسلم ويلي دي. روايت کړے دے ماته محمد بن مثنى هغۀ ته معاذ هغۀ ته هشام چه د معاذ پلار دے. هغۀ ته قتاده هغۀ ته زراره هغۀ ته سعد بن هشام چه سعد طلاق ورکړو خپلے ښځے لره او مدينے ته لاړو. دد ے دپاره چه خپله زمکه وغيره خرڅه کړي بيانے دغه مضمون بيان کړو.

او مسلم ويلي دي چه روايت کړے دي ماته ابوبكر بن ابى شيبه هغۀ ته محمدبن بشر هغه ته سعيد بن ابى عروبه هغۀ ته قتاده هغۀ ته زُراره بن اوفى او هغۀ ته سعد بن هشام ويلي دي سعد چه زۀ د عبد الله بن عباس خواله لاړم او د هغۀ نه م د وترو په باره کښں تپوس اوکړو او ټوله قصه م د حديث بيان کړه. او په دے کښں دا هم دي چه حضرت عائشے صديقے اوفرمايل چه هشام څوک دے؟ هغوي اووے د عامر خوئ: هغوي اوفرمايل هغه ښۀ سړے وو. او عامر د اُحد په جنګ کښں شهيد شوے وو.

سَعِيدٍ وَفِيهِ قَالَتْ مَنْ هِشَامٌ قَالَ ابْنُ عَامِرٍ قَالَتْ نِعْمَ الْمَرْءُ كَانَ أُصِيبَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ وَفِيهِ فَقَالَ حَكِيمُ بْنُ أَفْلَحَ أَمَا إِنِّي لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكَ لَا تَدْخُلُ عَلَيْهَا مَا أَنْبَأْتُكَ بِحَدِيثِهَا

حضرت عائشے صدیقےؓ تپوس اوکړو. چه کوم یو هشام ؟ هغوی اووے. چه د عامر خوئ؛ حضرت عائشے صدیقےؓ اوفرمایل چه آو هغه ښۀ بنۀ سړے وو، شهید شوے وو د رسول اللهﷺ د صحابو سره د اُحُد په ورځ. او په هغے کښې دا هم دی چه حکیم بن افلح اووے چه کۀ چرته ما ته پته وے چه تۀ د هغے خواله نۀ ځے نو ما به د هغے د حدیث تالره خبر نۀ درکوو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا فَاتَتْهُ الصَّلَاةُ مِنَ اللَّيْلِ مِنْ وَجَعٍ أَوْ غَيْرِهِ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشه صدیقهؓ فرمائی چه د رسول اللهﷺ د شپے تهجد چه به کله قضاء شو د څۀ درد وغیره په سبب سره. نو د ورځے به ئے دولس رکعته کول.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَمِلَ عَمَلًا أَثْبَتَهُ وَكَانَ إِذَا نَامَ مِنَ اللَّيْلِ أَوْ مَرِضَ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً قَالَتْ وَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَامَ لَيْلَةً حَتَّى الصَّبَاحِ وَمَا صَامَ شَهْرًا مُتَتَابِعًا إِلَّا رَمَضَانَ

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشه صدیقهؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ به هر کله چه څۀ کار کوو. نو هغۀ به ئے همیشه کولو. او کله چه به د شپے اودۀ شو یا به ناجوړه شو. نو د ورځے به ئے دولس رکعته کول. او ما نۀ دے لیدلے چه چرته هغه ټوله شپه د سحره پورے ویخ وو. او چرته ئے یوه میاشت برابر روژے نۀ دی نیولی مګر د رمضان روژے به ئے نیولے.

عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهُ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ

عمر بن خطابؓ به ویل. چه فرمایلی دی رسول اللهﷺ څوک چه اودۀ شی او د خپلے وظیفے نۀ ئے پریخودۀ څۀ څیز لره. او اولوستو ئے هغے لره د سحر او ماسپخین په مینځ کښې. نو لیکی هغے لره الله داسے لکه چه لوستلے وی هغه د شپے.

عَنِ الْقَاسِمِ الشَّيْبَانِيِّ أَنَّ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ رَأَى قَوْمًا يُصَلُّونَ مِنَ الضُّحَى فَقَالَ أَمَا لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّ الصَّلَاةَ فِي غَيْرِ هَذِهِ السَّاعَةِ أَفْضَلُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د قاسم شیبانی نه روایت دے چه زید بن ارقمؓ خلقو لره د څاښت په مانځۀ کولو اولیدل (یعنی اُوس ورځ بنه نۀ وه ختلے) نو هغوی اووے. چه خلق ښۀ پوهه دی چه مونځ دد ے نه سوا په بل وخت کښې غوره دے. ځکه چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه مونځ د رجوع کونکو

قَالَ صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ حِينَ تَرْمَضُ الْفِصَالُ

بندیګانو هله دے. چه د اوښانو د بچو قدمونه ګرم شي[1].

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ قُبَاءَ وَهُمْ يُصَلُّونَ فَقَالَ صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ إِذَا رَمِضَتِ الْفِصَالُ

زید بن ارقمؓ ویلی دی چه اووتهٔ رسول اللهﷺ د قباء والاؤ په طرف باندے او اوئے لیدل چه خلق مونځ کوی نو هغهٔ اوفرمایل چه د صلوة اوابین وخت هله دے چه د اوښانو د بچو خپے سوزیدل شروع شي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى

عبد الله بن عمرؓ ویلی دی چه یو سړی د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو د شپے د مانځهٔ په باره کښ. نو هغهٔ اوفرمایل چه د شپے مونځ دوه دوه رکعته دے. بیا چه هر کله خیال راشي چه سحر شروع کیدونکے دے. نو یو رکعت به اولولی چه طاق شی تول مونځ کوم چه هغهٔ اوکړو.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ فَقَالَ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا خَشِيتَ الصُّبْحَ فَأَوْتِرْ بِرَكْعَةٍ

سالم د خپل پلار نه روایت کوی چه یو سړی د رسول الله نه تپوس اوکړو د شپے د مانځهٔ په باره کښ. نو هغهٔ اوفرمایل. دوه دوه رکعته لولوه. بیا هر کله چه د سحر کیدو یره شي. نو یو رکعت وتر ادا کړه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّائِلِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ صَلَاةُ اللَّيْلِ قَالَ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا خَشِيتَ الصُّبْحَ فَصَلِّ رَكْعَةً وَاجْعَلْ آخِرَ صَلَاتِكَ وِتْرًا ثُمَّ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ وَأَنَا بِذَلِكَ الْمَكَانِ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَلَا أَدْرِي هُوَ ذَلِكَ الرَّجُلُ أَوْ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ

عبد الله بن عمرؓ ویلی دی چه یو سړی د نبی کریمﷺ نه تپوس اوکړو. او زهٔ د هغهٔ او د حضرتؐ په مینځ کښ وم. هغهٔ عرض اوکړو. چه اے د الله رسوله! د شپے مونځ څنګه دے؟ حضرتؐ اوفرمایل چه دوه دوه رکعته. بیا چه کله تاته یره شي د صبا د راختو نو یو رکعت اوکړه. او د مانځهٔ په آخر کښ وتر ادا کړه. بیائے تپوس اوکړو یو کال پس او زهٔ د حضرتؐ په خواه کښ هغه شان وم (یعنی د دواړو په مینځ کښ) هغه سړی یا بل چا بیا هم حضرتؐ د هغے په مثل اوفرمایل.

---

[1] دد ے نه معلومه شوه. چه د څاښت مونځ د ورځے د ختلو په وخت غوره دے. اګر کهٔ د نمر د راختو نه د زواله پورے جائز دے. مګر صحیح وخت دا دے چه په نمر سره شګے ګرمے شي. او د اوښ د بچو قدمونه سیزل شروع شي. او دے ته صلوة اوابین هم ویلے شي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ

عبد الله بن عمرؓ وېلی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمايل. وتر د صبا د راختو نه مخکښې ادا کوئ.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ مَنْ صَلَّى مِنَ اللَّيْلِ فَلْيَجْعَلْ آخِرَ صَلَاتِهِ وِتْرًا فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ بِذٰلِكَ

د نافع نه روایت دے. چه ابن عمر وېلی دی څوک چه د شپې مونځ ادا کوی نو وتر د د ټولو نه په آخر کښې ادا کوی. ځکه چه رسول الله ﷺ دغه حکم فرمایلے وو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا

عبد الله بن عمرؓ وائی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. وتر یو رکعت دے د شپې په آخر کښې.

عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ رَكْعَةٌ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ وَسَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ رَكْعَةٌ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ

ابی مِجلز وائی چه ما د ابن عباسؓ نه د وترو په باره کښې تپوس اوکړو. نو هغوی اووے اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه چه هغه یو رکعت دے د شپې په آخر کښې. او تپوس اوکړو ما د ابن عمرؓ نه نو هغوی اووے. ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمایل ئے هغه یو رکعت دے. د شپې په آخره حصه کښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ حَدَّثَهُمْ أَنَّ رَجُلًا نَادَى رَسُولَ اللهِ ﷺ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ أُوتِرُ صَلَاةَ اللَّيْلِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ صَلَّى فَلْيُصَلِّ مَثْنَى مَثْنَى فَإِنْ أَحَسَّ أَنْ يُصْبِحَ سَجَدَ سَجْدَةً فَأَوْتَرَتْ لَهُ مَا صَلَّى

عبد الله بن عمرؓ خلقو ته بیان اوکړو چه یو سړی رسول الله ﷺ ته آواز اوکړو او هغهؐ په جماعت کښې وو. اوعرض ئے اوکړو چه اے دالله رسولهؐ! زهٔ خپل دشپې مونځ څنګه ناتکے کړم؟ حضرتؐ اوفرمایل. کوم مونځ چه ادا کوے. دوه دوه رکعته ادا کوه بیا چه کله د سحر علامات اومومے نو یو رکعت ادا کړه هغه به ټولو لره ناتکے کړی[۱]

عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ قُلْتُ أَرَأَيْتَ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْغَدَاةِ

انس بن سیرین وائی چه ما د ابن عمرؓ نه تپوس اوکړو. چه ماله خبر راکړه د دوو رکعتونو په باره کښې چه د سحر د مانځهٔ نه مخکښې

۱: ددے حدیثونو نه یو رکعت وتر کول ثابت شو لکه چه د شافعیو او اکثرومحدثینو مذهب دے. او دا حدیثونه په حنفیو باندے دلیل دے. «د وترو په باره کښې صرف دا احادیث نه دی نور هم ډیر احادیث موجود دی. مثلاً په بخاری کښې دی ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثًا ج: ۱ ،ص: ۱۵۴ بیا به پیغمبر علیه السلام درے رکعت وتر کول په مسلم شریف کښې دی ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ بیا هغوی درے رکعت وتر اوکړل (ج:۱ ص:۲۶۱) ددے نه علاوه ډیرو جلیل القدر صحابه کرامو رضی الله عنهم هم درے رکعته وتر به کول د تفصیل دپاره اوګورئ حدیث اور اهل حدیث از ص: ۵۵۳ تا ۵۷۹. ۱۲ عارفـ او ثابته شوه چه د شپې په آخره حصه کښې وتر کول مستحب دی.

أُوْطِيلُ فِيهِمَا الْقِرَاءَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ قَالَ قُلْتُ إِنِّي لَسْتُ عَنْ هٰذَا أَسْأَلُكَ قَالَ إِنَّكَ لَضَخْمٌ أَلَا تَدَعُنِي أَسْتَقْرِئُ لَكَ الْحَدِيثَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْغَدَاةِ كَأَنَّ الْأَذَانَ بِأُذُنَيْهِ قَالَ خَلَفٌ أَرَأَيْتَ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْغَدَاةِ وَلَمْ يَذْكُرْ صَلَاةِ

دی زۀ په هغې کښې قراءت اوږد کړم. عبد الله ابن عمرؓ اووے چه رسول اللهﷺ به د شپې دوه دوه رکعتونه کول او وتر به ئې يو رکعت کول. ابن سيرينؒ اووے زۀ دد ے تپوس نۀ کوم. عبد الله اووے. چه تۀ غټ سړے ئې (يعنی غټ عقل والا چه په مينځ کښې وينا ته پاسيدے) ما ته فرصت نۀ راکوے چه زۀ تاته پوره حديث بيان کړم. رسول اللهﷺ به د شپې دوه دوه رکعته کول او وتر به ئې يو رکعت ادا کولو او دوه رکعته به ئې د سحر د مانځۀ نه مخکښې په داسې وخت باندے ادا کول چه تکبير به د هغۀ په غوږ کښې اوشو (يعنی د تکبير په وخت به ئې لوستلو. او ظاهره ده چه دغه وخت کوم مونځ کيږی هغه به زيات لنډ وی) خلف په خپل روايت کښې أَرَأَيْتَ ويلی دی. او د مانځۀ ذکر ئې نۀ دے کړے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ بِمِثْلِهِ وَزَادَ وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ وَفِيهِ فَقَالَ بَهْ بَهْ إِنَّكَ لَضَخْمٌ

انس بن سيرين ويلی دی چه ما د ابن عمرؓ نه تپوس اوکړو او د پورته روايت په شان بيان ئې اوکړو او دومره ئې زياته کړه چه وتر به ئې يو رکعت د شپې په اخر کښې کول. او په دے کښې دا هم دی. چه اودريږه اودريږه تۀ غټ سړے ئې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا رَأَيْتَ أَنَّ الصُّبْحَ يُدْرِكُكَ فَأَوْتِرْ بِوَاحِدَةٍ فَقِيلَ لِابْنِ عُمَرَ مَا مَثْنَى مَثْنَى قَالَ أَنْ تُسَلِّمَ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ

عبد الله بن عمرؓ روايت کوی چه رسول اللهﷺ فرمايلی دی چه د سحر مونځ دوه دوه رکعته دے. بيا چه هر کله تا ته معلومه شوه چه سحر رانژدے شو نو يو رکعت وتر ادا کړه. بيا د ابن عمرؓ نه تپوس اوشو چه د دوو دوو رکعتو څۀ معنٰی ده؟ هغوی اووے. چه هر دوه رکعته پس سلام اوګرځولے شی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ أَوْتِرُوا قَبْلَ أَنْ تُصْبِحُوا

د ابوسعيد خدریؓ نه روايت دے. چه نبی کريمﷺ فرمايلی دی چه وتر د سحر نه مخکښې ادا کوئ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَخْبَرَهُمْ أَنَّهُمْ سَأَلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ أَوْتِرُوا قَبْلَ الصُّبْحِ

ابوسعيدؓ ويلی دی چه هر کله خلقو د نبی کريمﷺ نه د وترو په باره کښې تپوس اوکړو نو هغۀ اوفرمايل. د سبا نه ئې مخکښې ادا کوئ.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَافَ أَنْ لَا يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ أَوَّلَهُ وَمَنْ طَمِعَ أَنْ يَقُومَ آخِرَهُ فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ فَإِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُودَةٌ وَذٰلِكَ أَفْضَلُ و قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ مَحْضُورَةٌ

جابر وېلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چا ته چه يره وي چه د شپې په آخره حصه کښې به ويخ نۀ شم نو د شپې په اول کښې د (د ماسختن نه پس) وتر ادا کړي او د چا چه يقين وي چه د شپې په آخره حصه کښې پاسيدے شم نو پکار ده چه وتر په آخره شپه کښې ادا کړي ځکه چه د شپې مونځ داسې دے چه په هغې کښې فرښتې حاضريږي او هغه غوره دے. او ابو معاويه محضوره وېلي دي (معنى د د واړو يو ده)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَيُّكُمْ خَافَ أَنْ لَا يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ ثُمَّ لِيَرْقُدْ وَمَنْ وَثِقَ بِقِيَامٍ مِنَ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ مِنْ آخِرِهِ فَإِنَّ قِرَاءَةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَحْضُورَةٌ وَذٰلِكَ أَفْضَلُ

جابر وېلي دي چه ما د نبي كريم ﷺ نه اوريدلي دي. چه فرمايلي ئې وو. هر يو ستاسو نه چه څوک يريږي چه زۀ به د شپې په آخره حصه کښې ويخ نۀ شم نو پکار ده چه وتر ادا کړي او بيا اوده شي. او د چا چه د شپې د پاڅيدو يقين وي. هغه د په آخر کښې وتر ادا کړي. ځکه چه د آخرے شپې قراءت داسې دے. چه په هغې کښې فرښتې حاضريږي او دا غوره دے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّلَاةِ طُولُ الْقُنُوتِ

جابر وېلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه په مونځونو کښې غوره مونځ هغه دے چه په هغې کښې ډير ساعت اودريدل وي.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ قَالَ طُولُ الْقُنُوتِ

جابر وېلي دي چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړے شو. چه کوم يو مونځ غوره دے؟ هغۀ اوفرمايل چه په کومے کښې ډير اودريدل وي.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَذٰلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ

حضرت جابر د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمايلي ئې وو. چه په شپه کښې يو ساعت داسې دے چه هغه وخت کښې چه کوم مسلمان د الله تعالى نه د دنيا او آخرت نيکي غواړي الله تعالى ئې هغۀ لره ورکوي. او دغه (ساعت) په هره شپه کښې وي.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ

جابر وېلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه شپه کښې يو ساعت داسې وي. چه دغه وخت مسلمان بنده د الله پاک نه څۀ غواړي هغه ورکوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

ابوهريره وېلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي. زمونږ پروردګار

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ فَيَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ

چه لویو برکتونو والا اوچت ذات والا دے. په دریمه حصه د شپې کښې هره شپه آسمان دنیا ته راکوزیږی څرنگه چه هغهٔ سره ښائیږی. او فرمائی څوک شته چه ځمانه دعُا اوغواړی چه زهٔ د هغهٔ دعا قبوله کړم. څوک شته چه ځمانه د څهٔ سوال اوکړی چه زهٔ ئے ورته ورکړم. څوک شته چه ځمانه بخښنه اوغواړی چه زهٔ هغه اوبخښم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَنْزِلُ اللهُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا كُلَّ لَيْلَةٍ حِينَ يَمْضِي ثُلُثُ اللَّيْلِ الْأَوَّلُ فَيَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَنَا الْمَلِكُ مَنْ ذَا الَّذِي يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ مَنْ ذَا الَّذِي يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ مَنْ ذَا الَّذِي يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ فَلَا يَزَالُ كَذٰلِكَ حَتَّى يُضِيءَ الْفَجْرُ

ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے دے. چه هغهٔ فرمایلی دی چه راکوزیږی الله تعالی د آسمان دنیا په طرف هر کله چه دریمه حصه شپه د اول تیره شی. او فرمائی زهٔ بادشاه یم څوک شته چه ځما نه دُعا اوکړی چه زهٔ ئے قبوله کړم. څوک شته چه ځمانه اوغواړی چه زهٔ ئے هغه لره ورکړم. څوک شته چه ځما نه بخښنه اوغواړی چه زهٔ ئے اوبخښم. غرض دا چه د سحر د رڼا کیدو پورے دغه شان فرمائی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَضَى شَطْرُ اللَّيْلِ أَوْ ثُلُثَاهُ يَنْزِلُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُولُ هَلْ مِنْ سَائِلٍ يُعْطَى هَلْ مِنْ دَاعٍ يُسْتَجَابُ لَهُ هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ يُغْفَرُ لَهُ حَتَّى يَنْفَجِرَ الصُّبْحُ

ابوهریرهؓ وېلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی هر کله چه نیمه شپه یا په دریو کښې دوه حصے تیرے شی. راکوز شی الله برکت والا، اوچت ذات والا د دنیا د اسمان په طرف اوفرمائی. څوک څهٔ غوښتلو والا شته چه هغه ، هغهٔ ته ورکړے شی. څوک دُعا کړے شی. څوک بخښنے غوښتلو والا شته. چه هغه اوبخښلے شی. تر دے پورے چه سحر شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ اللهُ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا لِشَطْرِ اللَّيْلِ أَوْ لِثُلُثِ اللَّيْلِ الْآخِرِ فَيَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ أَوْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ ثُمَّ يَقُولُ مَنْ يُقْرِضُ غَيْرَ عَدِيمٍ وَلَا ظَلُومٍ

حضرت ابوهریرهؓ وېلی وو چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. راکوزیږی الله تعالی برکت والا د آسمان دنیا په طرف په نیمه شپه کښې. اوفرمائی څوک ځم انه دُعا کوی چه زهٔ ئے قبوله کړم. او څوک ځما نه سوال کوی چه زهٔ هغهٔ لره ورکړم. بیا فرمائی چه چا هغهٔ لره قرض ورکړو هغه به چرته فقیر نهٔ شی او نهٔ به چا باندے ظلم اوکړی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يُمْهِلُ حَتَّى إِذَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْأَوَّلُ نَزَلَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُولُ هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ هَلْ مِنْ تَائِبٍ هَلْ مِنْ سَائِلٍ هَلْ مِنْ دَاعٍ حَتَّى يَنْفَجِرَ الْفَجْرُ

ابوسعید او ابوهریره رضی الله عنهماویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه الله تعالی مهلت ورکوی تردے پورے چه هر کله دریمه حصه شپه تیریږی. نو راکوز شی په آسمان دنیاباندے او اوفرمائی څوک شته دے. چه مغفرت اوغواړی څوک دے چه توبه اویاسی. څوک دے چه څۀ اوغواړی. څوک دے چه دُعا اوکړی. دغه فرمائی تردے پورے چه سحر شی[1].

بَابُ التَّرْغِيبِ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ وَهُوَ التَّرَاوِيحُ

باب : د قیام د رمضان یعنی د تراویحو په مانځۀ د تیزلو په بیان کښ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی څوک چه د رمضان په شپه کښ د ایمان او ثواب په نیت سره مونځ ادا کړی د هغۀ رومبی ګناهونه اوبخښلے شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ فِيهِ بِعَزِيمَةٍ فَيَقُولُ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ په رمضان کښ د تراویح د کولو ترغیب ورکولو. بغیر ددے نه چه یارانو ته په تاکید سره حکم اوکړی. اوفرمایل به ئے څوک چه په رمضان کښ د ایمان د صحیح کولودپاره او د ثواب حاصلولو دپاره مونځ ادا کړی. نو د هغۀ

[1] ددے تولو احادیث صحیحو نه د پروردګار هره شپه راکوزیدل چه هغه د الله تعالی یو صفت فعلی دی ، ثابت شو او ددے په ظاهری معنی باندے بلا کیف ایمان راؤړل د سلفو عقیده ده. او دا تاویل چه د هغه رحمت نازلیږی. یاد هغۀ فرښتے . دا تاویلات باطل او بے کاره دی خکه چه څوک فرښته وغیره دا نۀ شی ویلے. چه څما نه اوغواړئ چه درکړم. څۀ دُعا چه کوئ چه قبوله ئے کړم. دا خاص د الله تعالی ذات مقدس لره لایق دی. نۀ د هغۀ د صفت نه دا خبره وتلے شی. نه د چا مخلوق نه او نۀ صحابه کرامو نه. او د تابعینو رحمهم الله او د ائمه دین او د اوچتو محدثینو په دے تولو صفاتو کښ لکه راکوزیدل ختل، او رَاتلل، خندل ، حیرانیدل، استواء ، غصه کول، رحم کول، کوم چه په احادیث صحیحه کښ یا د قرآن په آیتونو کښ راغلی دی. دغه مذهب دے چه ددے په ظاهری معنی باندے ایمان راؤړل او د هغے کیفیت الله ته سپارل. او د قرض ورکولو نه مراد صدقه ده. چه هغے ته ئے د فضل په لاز سره قرض اوفرمایلو. او اکثر ددے تولو احادیثو نه لوئے غوره والے د شپے د آخرے حصے ثابت شو. یعنی ظاهر شو. او د دُعاګانو قبلول او غوښتونکی لره ورکول. او د رحمتونو جوش، او د قبولیت جذبه او د الطافو زور او د رحمتونو شور ترنه ثابتیږی.

تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ عَلَى ذٰلِكَ

رومبی گناهونه اوبخنبلے شی. بیا رسول الله ﷺ انتقال اوفرمایلو. بیا د حضرت ابوبکر صدیق ؓ په خلافت کښې دغه طریقه وه. بیا د حضرت عمر ؓ د خلافت په شروع کښې هم دغه طریقه وه (یعنی د چا زړۀ چه به غوښته د شپے به ئے مونځ ادا کولو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ حَدَّثَهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

ابوهریره ؓ خلقو ته بیان اوکړو. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه چا د ایمان او ثواب په نظر سرهٔ رمضان روژه اونیوه. نو د هغهٔ رومبی گناهونه بخنبلے کیږی. او چا چه د ایمان او ثواب په نظر سره په شب قدر کښې قیام اوکړو. نو د هغهٔ هم رومبی گناهونه بخنبلے کیږی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَيُوَافِقُهَا أُرَاهُ قَالَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے. چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چه څوک د شب قدر په شپه ویښ شی او عبادت کوی. او پوهه شی چه دا شب قدر دے. زهٔ گمان کوم چه هغه دا اوفرمایل. چه د ایمان او ثواب په نظر سره هغه بخنبلے شی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَصَلَّى بِصَلَاتِهِ نَاسٌ ثُمَّ صَلَّى مِنَ الْقَابِلَةِ فَكَثُرَ النَّاسُ ثُمَّ اجْتَمَعُوا مِنَ اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ قَدْ رَأَيْتُ الَّذِي صَنَعْتُمْ فَلَمْ يَمْنَعْنِي مِنَ الْخُرُوجِ إِلَيْكُمْ إِلَّا أَنِّي خَشِيتُ أَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ قَالَ وَذٰلِكَ فِي رَمَضَانَ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ یوه شپه په جماعت کښې مونځ اوکړو او د هغهٔ سره څو کسان وو. په دویمه ورځ خلق زیات شول. بیا په دریمه یا څلورمه شپه خو خلق ډیر جمع شول. او رسول الله ﷺ د هغوی په طرف بهر نهٔ شو. بیا چه کله سحر شو نو حضرت ؐ اوفرمایل. چه ما ستاسو حال لیدلو او زهٔ نهٔ راوتم مگر دد ے وجے نه چه ما ته یره شوه (چه داد تراویح مونځ چرته پتاسو باند ے فرض نهٔ کړے شی.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ فَصَلَّى رِجَالٌ بِصَلَاتِهِ فَأَصْبَحَ النَّاسُ يَتَحَدَّثُونَ بِذٰلِكَ فَاجْتَمَعَ أَكْثَرُ مِنْهُمْ فَخَرَجَ

عروه بن زبیر ؓ لره حضرت عائشے ؓ خبر ورکړو. چه رسول الله ﷺ د شپے رااووتو او په جماعت کے ئے مونځ اوکړو. او څهٔ کسانو د هغهٔ سره مونځ اوکړو. بیا سحر خلقو د هغے ذکر شروع کړو. او په دویمه شپه د هغے نه زیات خلق راجمع شول. او حضرت ؐ

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اللَّيْلَةِ الثَّانِيَةِ فَصَلَّوْا بِصَلَاتِهِ فَأَصْبَحَ النَّاسُ يَذْكُرُوْنَ ذٰلِكَ فَكَثُرَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ مِنَ اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ فَخَرَجَ فَصَلَّوْا بِصَلَاتِهِ فَلَمَّا كَانَتِ اللَّيْلَةُ الرَّابِعَةُ عَجَزَ الْمَسْجِدُ عَنْ أَهْلِهِ فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطَفِقَ رِجَالٌ مِنْهُمْ يَقُوْلُوْنَ الصَّلَاةَ فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى خَرَجَ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ فَلَمَّا قَضَى الْفَجْرَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ تَشَهَّدَ فَقَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّهُ لَمْ يَخْفَ عَلَيَّ شَأْنُكُمُ اللَّيْلَةَ وَلٰكِنِّي خَشِيتُ أَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ صَلَاةُ اللَّيْلِ فَتَعْجِزُوْا عَنْهَا

هم رااووتو. بیا ئے د هغهٔ سره مونځ ادا کړو. او خلقو د هغے ذکر کول شرع کړو. صبا بیا په دریمه شپه جماعت والا خلق راجمع شو. او حضرت رااووتو او د هغهٔ سره خلقو مونځ اوکړو. بیا چه کله څلورمه شپه شوه جماعت د خلقو نه ډک شو او رسول الله ﷺ رااو نهٔ وتو. بیا خلقو آواز اوکړو مونځ مونځ او هغه نهٔ راوتلو تردے پورې چه د سحر مانځهٔ له راغے. بیا چه ئے کله مونځ اوکړو. نو خلقو طرفته ئے مخ کړو. او تشهد ئے اوکړو او روستو د حمد او صلوة نهٔ ئے اووے. چه معلومه شوه چه ستاسو د نن شپے حال څمانه څهٔ پټ نهٔ وو مګر ما یره اوکړه. چه پتاسو باندے د شپے مونځ (یعنی تراویح فرض نهٔ شی) او تاسو د هغے د کولو نه عاجز راشئ[1].

بَابُ النَّدْبِ الْأَكِيْدِ إِلٰى قِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَدَلِيْلِ مَنْ قَالَ إِنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ

باب: په لیلة القدر کښې د مونځ د کولو ډیر زیات د مستحب کیدو او دا چه لیلة القدر په اوویشتمه شپه دے، ددے بیان

[1] ددے تولو حدیثو نه د روژے د شپے فضیلت ظاهر شو. او ثابته شوه چه حضرت صلی الله علیه وسلم هم درے ورځے تراویح په جماعت سره کړی دی. جماعت هم سنت شو او د رکعتونو تعداد دغه مسنون دے. کوم چه د حضرت عائشے رضی الله عنها نه مروی دے (د حضرت عائشے رضی الله عنها د حدیث د تراویحو سره څهٔ تعلق نشته بلکه دا د صلوة الیل یعنی د تهجدو په باره کښې دے. دغه وجه ده چه ټول ائمه مجتهدین او ائمه حدیث د شلو رکعتو د تراویحو قائل دی د اتو رکعتو په څلورو امامانو کښې یو مجتهد قائل نهٔ دے په شلو رکعاتو تراویحو د تولو صحابهٔ کرامو اجماع شوے ده. د تفصیل دپاره اوګورئ حدیث او اهل حدیث ص. ٦٣٠ تا ٦٩٢) چه په رمضان وغیره کښې به ئے د اتو رکعتونه زیات نهٔ کول او کهٔ ددے نه زیات ادا کوی نو مباح دی. او ددے نه دا هم معلومه شوه چه نوافل په جماعت سره جائز دی بلکه په اختر، کسوف، او استسقاء کښې جماعت اولی دے. او د جماعت نه سوا په جماعت کښې هم د نوافلو رواکیدل ثابت شو. او داهم ثابته شوه. چه اقتدا د هغے روا ده چه د هغے د امامت امام نیت نهٔ وی کړے او دغه صحیح دے او دا هم معلومه شوه چه هر کله په څهٔ کار کښې مصلحت او مفسد دواړه جمع وی نو د هغے تدارک اولی دی لکه چه هغهٔ تراویح د فرض کیدو د وجے نه پریښودے. او بیا هغهٔ خپلو پریخودو وجه هم بیان کړله چه د یارانو زړهٔ خوشحاله شی. او په خطبه کښې تشهد او د امّا بعدُ لفظ ئے اوویلو چه دا دواړه مسنون دی.

عَنْ زِرٍّ قَالَ سَمِعْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ يَقُولُ وَقِيلَ لَهُ إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ مَنْ قَامَ السَّنَةَ أَصَابَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَقَالَ أُبَيٌّ وَاللهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ إِنَّهَا لَفِي رَمَضَانَ يَحْلِفُ مَا يَسْتَثْنِي وَ وَاللهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ أَيُّ لَيْلَةٍ هِيَ هِيَ اللَّيْلَةُ الَّتِي أَمَرَنَا بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقِيَامِهَا هِيَ لَيْلَةُ صَبِيحَةِ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ وَأَمَارَتُهَا أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فِي صَبِيحَةِ يَوْمِهَا بَيْضَاءَ لَا شُعَاعَ لَهَا

د زر نه روايت دے چه ما د ابی بن کعبؓ نه اوريدلی دی او هغهٔ ته اوويلے شو چه عبد الله بن مسعودؓ وائی چه څوک تول کال ويخ پاتے شی هغهٔ ته به شب قدر ميلاو شی. ابیؓ اووے قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ نه سوا څوک معبود نشته. چه بيشکه شب قدر په رمضان کښې دے. او هغه به قسم خوړلو او انشاء الله به ئے نهٔ ويلو (مطلب دا چه يقين وو د هغهٔ په خپل قسم چه رښتونے دے) او ويل به ئے چه قسم دے په الله چه زهٔ پوهه يم چه هغه کومه شپه ده؟ هغه، هغه شپه ده چه په هغے کښې رسول الله ﷺ مونږ ته د ويخ پاتی کيدو حکم کړے دے. او هغه، هغه شپه ده چه د هغے سحر لره اوويشتم تاريخ وی. او نخښه د شب قدر دا ده چه د هغے په سحر نمر راخيژی او په هغے کښې شعاع ګانے نهٔ وی

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ أُبَيٌّ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَاللهِ إِنِّي لَأَعْلَمُهَا وَأَكْثَرُ عِلْمِي هِيَ اللَّيْلَةُ الَّتِي أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقِيَامِهَا هِيَ لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ وَإِنَّمَا شَكَّ شُعْبَةُ فِي هَذَا الْحَرْفِ هِيَ اللَّيْلَةُ الَّتِي أَمَرَنَا بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَحَدَّثَنِي بِهَا صَاحِبٌ لِي عَنْهُ

ابیؓ ويلی دی په خدائے مې د قسم وی چه زهٔ ليلة القدر لره پيژنم چه هغه په دغه شپه کښې دے چه مونږ ته رسول الله ﷺ په دغه شپه د ويخ پاتے کيدو حکم کړے دے او هغه اوويشتمه شپه ده. او شعبه ته په دی خبره کښې شک دے چه أبیؓ ويلی دی. حکم کړے د دغه شپے مونږ ته رسول الله ﷺ . او ويلی دی شعبه چه دا خبره ما ته څما يو دوست د عبدهٔ د طرفه بيان کړه[1].

بَابُ صَلٰوةِ النَّبِيِّ ﷺ وَدُعَائِهِ بِاللَّيْلِ

باب : د نبی کريم ﷺ مونځ او د شپے دُعا

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ لَيْلَةً عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ فَأَتَى حَاجَتَهُ ثُمَّ

ابن عباسؓ ويلی دی چه يوه شپه زهٔ د خپلے ترور ميمونے خواله لاړم (د دے دپاره چه د حضرت ﷺ مونځ اوګورم) او نبی پاڅيدو او د خپل قضاء حاجت دپاره لاړو. بيائے خپله خُلهٔ او لاس اووينځل. بيا اودهٔ شو.

[1] د شب قدر مفصل بيان مخکښې به راشی. ان شاء الله (مترجم)

مسلم ويلی دی او روايت کړے دے ما ته عبيد الله بن معاذ هغهٔ ته د هغهٔ پلار هغهٔ ته شعبه د دغے اسناد سره د پورته روايت په شان او د شعبه د شک کولو او د هغے نه د بعد څهٔ ذکر ئے نهٔ دے کړے.

غَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ ثُمَّ نَامَ ثُمَّ قَامَ فَأَتَى الْقِرْبَةَ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءًا بَيْنَ الْوُضُوءَيْنِ وَلَمْ يُكْثِرْ وَقَدْ أَبْلَغَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى فَقُمْتُ فَتَمَطَّيْتُ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَرَى أَنِّي كُنْتُ أَنْتَبِهُ لَهُ فَتَوَضَّأْتُ فَقَامَ فَصَلَّى فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَدَارَنِي عَنْ يَمِينِهِ فَتَتَامَّتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ وَكَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ فَأَتَاهُ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ فَقَامَ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ وَكَانَ فِي دُعَائِهِ اَللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا وَفِي بَصَرِي نُورًا وَفِي سَمْعِي نُورًا وَعَنْ يَمِينِي نُورًا وَعَنْ يَسَارِي نُورًا وَفَوْقِي نُورًا وَتَحْتِي نُورًا وَأَمَامِي نُورًا وَخَلْفِي نُورًا وَعَظِّمْ لِي نُورًا قَالَ كُرَيْبٌ وَسَبْعًا فِي التَّابُوتِ فَلَقِيتُ بَعْضَ وَلَدِ الْعَبَّاسِ فَحَدَّثَنِي بِهِنَّ فَذَكَرَ عَصَبِي وَلَحْمِي وَدَمِي وَشَعْرِي وَبَشَرِي وَذَكَرَ خَصْلَتَيْنِ

بیا پاځیدو او د مشک خوا له راغے او د هغې خُلۀ ئے کھولاؤ کړه. بیائے د دوو اودسونو د مینځ اودس اوکړو (یعنی نۀ ډیر د مبالغے او نۀ ډیر کم) او زیاتے اوبۀ ئے توئ نۀ کړے او پوره اودس ئے اوکړو. بیا اودریدو مونځ ئے اوکړو. او زۀ هم پاسیدم او بدن مے تاؤ راتاؤ کړو چه چرته حضرت ﷺ دا اونۀ ګنړی. چه دا خما د حال د لیدو دپاره بیدار وو (دا دے نه معلومه شوه چه د صحابوؓ د حضرتؐ سره د علم غیب عقیده نۀ وه لکه چه اوس د جاهلانو د انبیاؤؑ او اولیاؤؒ سره ده) او ما هم اودس اوکړو. او د هغۀ نه ګس طرفته اودریدم. نو هغۀ خما لاس اونیوو او ښي طرفته ئے راواړولم (دا دے نه دا معلومه شوه چه یو مقتدی وی نو د امام نه به ښي طرفته اودریږی) غرض دا چه د رسول الله ﷺ د شپے مونځ دیارلس رکعته پوره شو. بیا هغۀ سملاستۀ او اودۀ شو. تر دے پورے چه خرېدل ئے شروع کړل او د هغۀ عادت مبارک وو چه هر کله چه به اوده شو خرېدۀ به بیا بلالؓ راغے او هغۀ ئے د سحر د مانځۀ دپاره خبر کړو او هغهؐ پاسیدو او د سحر مونځ ئے اوکړو. او اودس ئے اونۀ کړو او د هغۀ په دُعا کښں دا الفاظ وو د اللّٰهُمَّ نه د وَعَظِّمْ لِي نُورًا پورے. یعنی اے الله کړے خما په زړۀ کښں نور او خما په سترګو کښں نور، او خما په غوږونو کښں نور ، او خما نه ښي طرفته او خما نه ګس طرفته نور او خمانه د پاسه نور او خمانه د لاندے نور او خمانه مخکښں نور او خما نه روستو نور، او زیات کړے خما دپاره نور. کریب (کوم چه راوی د حدیث دے) ویلی دی چه اووۀ الفاظ ئے نُور فرمایلی وو چه هغه خما په زړۀ کښں دی (یعنی په خله نۀ راځي خکه چه خما هیر شو) بیا ما د ابن عباسؓ د بعضے اولاد سره ملاقات اوکړو. هغوی ماته بیان اوکړو چه هغه الفاظ دادی او ذکر ئے اوکړو چه خما پټے او غوښه خما او خما په

عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ لَيْلَةً عِنْدَ مَيْمُونَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ وَهِيَ خَالَتُهُ قَالَ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَصَفَ اللَّيْلُ أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الْآيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَوَضَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي وَأَخَذَ بِأُذُنِي الْيُمْنَى يَفْتِلُهَا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَوْتَرَ ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَ الْمُؤَذِّنُ فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ

وينه او ښما په ويختو او ښما په څرمن او دوه ځيزونه ئے نور ذكر كړل (يعني په دے تولو كښ حضرت ﷺ نور اوغوښتو)

كريب چه د ابن عباسؓ آزاد كړے غلام وو. هغهٔ ته ابن عباس خبر وركړو چه هغه يوه شپه د مؤمنانو د مور حضرت ميمونےؓ په كور كښ پاتے شو (چه هغه د مسلمانانو مور او د هغهٔ ترور وه) ابن عباسؓ وائی چه زهٔ د تكيه په لنډ طرف كښ سملاستم او رسول الله ﷺ او د هغهٔ بی بی صاحبهؓ د هغے تكيه په اوږد طرف سر كيښودل سملاستل او حضرتؑ اودهٔ شو. تردے پورے چه نيمه شپه شوله يا څهٔ لږ مخكښ يا څهٔ لږ روستو رسول الله ﷺ راويخ شو او د خوب اثر ئے د خپل مخ مبارك نه پخپل لاس سره صفا كولو (ددے استحباب ثابت شو) بيائے د سورة ال عمران اٰخرى لس اٰيتونو اولوستل (ددغه اٰيتونو هم په دغه وخت باندے لوستل مستحب شو) بيا د يو زوړند شوى پخوانى مشك خواله لاړو او په هغے ئے اودس اوكړو او ښهٔ اودس ئے اوكړو. بيا د مونځ د كولو دپاره اودريدو. ابن عباسؓ ويلى دى چه بيا ماهم دغه شان اوكړو لكه څنګه هغهٔ كړى وو (يعنى د اٰيتونو لوستل او د مخ نه د خوب اثر صفا كول) بيا لاړم زهٔ او د هغهٔ په خوا كښ يو طرفته اودريدم او رسول الله ﷺ خپل ښئ لاس څما پسر كيښودو او څما ښئ غوږ ئے اونيوو اوئے مروړلو (ددے دپاره چه بچى ته خوب ور نهٔ شى) بيائے دوه ركعته اوكړل. بيائے دوه ركعته اوكړل. بيائے دوه ركعته اوكړل. بيائے دوه ركعته اوكړل. بيائے دوه ركعته اوكړل بيائے وتر اوكړل بيا اودهٔ شو تردے پورى چه مؤذن راغے او هغهؑ پاسيدو او لنډ دوه

خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ

رکعتونه ئے اوکړل بیا را اووتو او د سحر فرض ئے اوکړل[1]

عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ ثُمَّ عَمَدَ إِلَى شَجْبٍ مِنْ مَاءٍ فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ وَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ وَلَمْ يُهْرِقْ مِنَ الْمَاءِ إِلَّا قَلِيلًا ثُمَّ حَرَّكَنِي فَقُمْتُ وَسَائِرُ الْحَدِيثِ نَحْوُ حَدِيثِ مَالِكٍ

مخرمه بن سلیمان هم ددغے اسناد سره دا روایت کړے دے. په دی کښ دومره زیات کړی دی. چه بیا رسول الله ﷺ د یو زوړ مشک طرفته اراده اوکړه او مسواک ئے اوکړو او اودس ئے اوکړو او پوره اودس ئے اوکړو.. مګر اوبه ئے ډیرے کمے توئ کړے. بیائے زهٔ اوخوزولم نو زهٔ پاڅیدم. او باقی روایت د مالک د روایت په مثل دے (یعنی کوم چه پورته ذکر شو)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ نِمْتُ عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ فَتَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَنِي فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ فَصَلَّى فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ نَامَ رَسُولُ اللهِ ﷺ حَتَّى نَفَخَ وَكَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ ثُمَّ أَتَاهُ الْمُؤَذِّنُ فَخَرَجَ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ قَالَ عَمْرٌو فَحَدَّثْتُ بِهِ بُكَيْرَ بْنَ الْأَشَجِّ فَقَالَ حَدَّثَنِي كُرَيْبٌ بِذٰلِكَ

د عبد الله بن عباس ؓ نه روایت دے. یوه ورځ زهٔ د اُمُّ المؤمنین حضرت میمونے ؓ چه بی بی محترمه ده د رسول الله ﷺ د هغے په کور کښ اودهٔ شوم او رسول الله ﷺ اودس اوکړو او اودریدو مونځ ئے کولو. زهٔ هم پاسیدم او د هغهٔ نه ګس طرفته اودریدم. نو زهٔ ئے اونیوم او ښی طرفته ئے کړم. او په دغه شپه ئے دیارلس رکعته اوکړل بیا اودهٔ شو. تردے پورے چه خنړارئے شروع کړو. او د هغهٔ عادت مبارک وو چه کله به اودهٔ شو نو خنړیدهٔ به بیا د هغهٔ خواله مؤذن راغے او هغه را اووتو او مونځ ئے اوکړو. او اودس ئے اونهٔ کړو. عمرو وائی ما دا حدیث بکیر ته بیان کړو نو هغوی اووے کریب هم ما ته بیان کړے دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ لَيْلَةً عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ فَقُلْتُ لَهَا إِذَا قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْقِظِينِي فَقَامَ

عبد الله بن عباس ؓ وائی دی چه زهٔ یوه شپه د خپلے ترور حضرت میمونے ؓ په کور کښ پاتے شوم. او ما هغے ته اووے چه کله رسول الله ﷺ پاسی نو ما هم ویخ کړه. پس رسول الله ﷺ پاسیدو او زهٔ د

---

[1] ددے حدیث نه ثابته شوه چه په دوه دوه رکعته سلام ګرځول غوره دی. او په وترو کښ هم دوه رکعته جدا او یو رکعت جدا کول او په مینځ کښ سلام ګرځول پکار دی. او دغه د جمهورو اشافعیو مذهب دے. په خلاف د احنافو. او ثابت شو جواز د مؤذن د امام خواله د راتلو ددے دپاره چه د مانځهٔ نه ئے خبر کړی.او لنډ کول د سحر د سنتو او تهجد سره د وترو دیارلس رکعته کول.او په دے کښ د فقهاؤ اختلاف دے. بعضو ویلی دی چه وتر دیارلس رکعته دی.او بعضو ویلی دی چه یولس رکعته دی.

رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ الْأَيْسَرِ فَأَخَذَ بِيَدِي فَجَعَلَنِي مِنْ شِقِّهِ الْأَيْمَنِ فَجَعَلْتُ إِذَا أَغْفَيْتُ يَأْخُذُ بِشَحْمَةِ أُذُنِي قَالَ فَصَلَّى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ احْتَبَى حَتَّى إِنِّي لَأَسْمَعُ نَفَسَهُ رَاقِدًا فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ خَالَتِهِ مَيْمُونَةَ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ فَتَوَضَّأَ مِنْ شَنٍّ مُعَلَّقٍ وُضُوءًا خَفِيفًا قَالَ وَصَفَ وُضُوءَهُ وَجَعَلَ يُخَفِّفُهُ وَيُقَلِّلُهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخْلَفَنِي فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ فَصَلَّى ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ أَتَاهُ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ فَخَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ قَالَ سُفْيَانُ وَهَذَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً لِأَنَّهُ بَلَغَنَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ فَبَقَيْتُ كَيْفَ يُصَلِّي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَقَامَ فَبَالَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ ثُمَّ نَامَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الْقِرْبَةِ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا ثُمَّ صَبَّ فِي الْجَفْنَةِ أَوِ الْقَصْعَةِ فَأَكَبَّهُ

هغهٔ نه گس طرفته اودریدم. او هغهٔ خما لاس اونیوو او ښی طرفته ئے کړم. او ماله چه به کله خوب جوته راکوله نو هغهٔ به خما غوږ نیولو. بیائے یولس رکعته اوکړل بیا هغهٔ سملاستو تردے پورې چه ما د هغهٔ خنړارے اوریدۀ. بیا چه هر کله سحر شو نو حضرت ﷺ دوه رکعتونه لنډ اوکړل.

عبد الله ابن عباس یوه شپه د خپلے ترور میمونے سره پاتے شو. او رسول الله ﷺ د شپے پاڅیدو او د یو زوړ مشک نه ئے لنډ اودس اوکړو. بیائے هغے ته د اودس په باره کښې بیان اوکړو چه اودس ډیر کم وو او په لږو اوبو سره ئے کړے وو. ابن عباس وئیلی دی زۀ پاڅیدم او ما هم هغه شان اوکړل څنګه چه پیغمبر ﷺ کړی وو. بیا زۀ راغلم او د رسول الله ﷺ گس طرفته اودریدم. نو هغهٔ زۀ د شا د طرفه راښکودم او ښی طرفته ئے کړم. بیائے مونځ اوکړو او سملاستو اودۀ شو. تردے پورے چه خنړارے ئے شروع کړو. بیا بلال راغے او د مانځۀ دپاره ئے خبر ورکړو. او را اووتو او د سحر مونځ ئے اوکړو. او اودس ئے اونۀ کړو. سفیان وئیلی دی چه دا (یعنی په اودۀ کیدو سره د اودس نۀ ماتیدل) د حضور نبی کریم ﷺ خاصه ده. ځکه چه مونږ ته رارسیدلی دی چه د نبی کریم ﷺ سترګے اوده کیدلے او زړۀ ئے نۀ اوده کیدو.

عبد الله بن عباس وئیلی دی چه زۀ یوه شپه د خپلے ترور میمونے په کور کښې پاتے شوم. او خیال مے کولو چه رسول الله ﷺ څنګه مونځ کوی. او هغه پاڅیدو او متیازے ئے اوکړے او مخ ئے اووینځلو او دواړه ورغوی ئے اووینځل. بیا اودۀ شو. بیا پاڅیدو او د مشک خواله لاړو. او د هغے غوټه ئے کهولاؤ کړه. او په خانک یا غته پیالے

بِيَدِهِ عَلَيْهَا ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءًا حَسَنًا بَيْنَ الْوُضُوءَيْنِ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي فَجِئْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ قَالَ فَأَخَذَنِي فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ فَتَكَامَلَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ نَامَ حَتَّى نَفَخَ وَكُنَّا نَعْرِفُهُ إِذَا نَامَ بِنَفْخِهِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ فَصَلَّى فَجَعَلَ يَقُولُ فِي صَلَاتِهِ أَوْ فِي سُجُودِهِ اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا وَفِي سَمْعِي نُورًا وَفِي بَصَرِي نُورًا وَعَنْ يَمِينِي نُورًا وَعَنْ شِمَالِي نُورًا وَأَمَامِي نُورًا وَخَلْفِي نُورًا وَفَوْقِي نُورًا وَتَحْتِي نُورًا وَاجْعَلْ لِي نُورًا أَوْ قَالَ وَاجْعَلْنِي نُورًا

کښې ئې اوبۀ راواچولې. او هغه ئې په خپل لاس سره ښکته کړو. او اودس ئې اوکړو ډیر ښۀ د دوو اودسونو د مینځ (یعنې نۀ ډیر سپک او نۀ ډیر درووند) بیا اودریدو مونځ ئې شروع کړو. بیا زۀ هم راغلم (یعنې اودس مې اوکړو.) او د هغۀ نه ګس طرفته اودریدم. نو هغۀ زۀ اونیولم او ښی طرفته ئې اودرولم. بیا د هغۀ پوره مونځ دیارلس رکعته اوشو. بیا اوده شو. تر دې پورې چه خرړارے ئې شروع کړو. او مونږ د هغۀ خوب د خرړارې نه پیژندلو. بیا مانځۀ ته اووتو او مونځ ئې اوکړو. او په خپل مانځۀ یا سجده کښې به ئې ویلو یا الله ځما په زړۀ کښې نور واچوې. او ځما په غوږونو کښې نور او ځما په سترګو کښې نور. او ځما نه ښی طرفته نور او ځمانه ګس طرفته نور. او ځما مخې ته نور او ځما شاته نور او ځما لاندې نور او ځما د پاسه نور او کړې ځما دپاره نور. یا ئې ویلو چه ما اوګرځوې نور.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ وَلَمْ يَذْكُرْ غَسْلَ الْوَجْهِ وَالْكَفَّيْنِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ ثُمَّ أَتَى الْقِرْبَةَ فَحَلَّ شِنَاقَهَا فَتَوَضَّأَ وُضُوءًا بَيْنَ الْوُضُوءَيْنِ ثُمَّ أَتَى فِرَاشَهُ فَنَامَ ثُمَّ قَامَ قَوْمَةً أُخْرَى فَأَتَى الْقِرْبَةَ فَحَلَّ شِنَاقَهَا ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءًا هُوَ الْوُضُوءُ وَقَالَ أَعْظِمْ لِي نُورًا وَلَمْ يَذْكُرْ وَاجْعَلْنِي نُورًا

ابن عباسؓ دغه مضمون کوم چه پورته تیر شو. بیان کړے دے. مګر د مخ او ورغوو ذکر ئې نۀ دے کړے. صرف دومره ئې ویلی دی چه بیا هغۀ د مشک خواله راغے. او د هغې سر ئې کهولاو کړو. بیائې د دوو او د سونو د مینځ اودس اوکړو بیا د خپل خوب کولو ځائې ته راغے. او اوده شو. بیا په دویم وار اودریدو. او د مشک خوا ته راغے او د هغې سر ئې کهولاو کړو. او اودس ئې داسې اوکړو چه هغه اودس دغه وو. او په دعا کښې ئې دا اووے. یا الله لوئې کړے ځما نور لره. او د وَاجْعَلْنِي نُورًا لفظ ئې نۀ دے ویلے.

عَنْ كُرَيْبٍ حَدَّثَهُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ بَاتَ لَيْلَةً عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْقِرْبَةِ

کریبؒ روایت کړے دے چه ابن عباسؓ یو شپه د رسول الله ﷺ سره پاتے شو. هغۀ ویلی دی چه رسول الله ﷺ پاځیدو او د مشک خواله لاړو. او هغه ئې را ښکته کړو. او په هغې

فَسَكَبَ مِنْهَا فَتَوَضَّأَ وَلَمْ يُكْثِرْ مِنَ الْمَاءِ وَلَمْ
يُقَصِّرْ فِي الْوُضُوءِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَفِيهِ قَالَ
وَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَتَئِذٍ
تِسْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً قَالَ سَلَمَةُ حَدَّثَنِيهَا كُرَيْبٌ
فَحَفِظْتُ مِنْهَا ثِنْتَيْ عَشْرَةَ وَنَسِيتُ مَا بَقِيَ
قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ
اجْعَلْ لِي فِي قَلْبِي نُورًا وَفِي لِسَانِي نُورًا وَفِي
سَمْعِي نُورًا وَفِي بَصَرِي نُورًا وَمِنْ فَوْقِي نُورًا
وَمِنْ تَحْتِي نُورًا وَعَنْ يَمِينِي نُورًا وَعَنْ شِمَالِي
نُورًا وَمِنْ بَيْنِ يَدَيَّ نُورًا وَمِنْ خَلْفِي نُورًا
وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُورًا وَأَعْظِمْ لِي نُورًا

ئے اودس اوکړو. او په اودس کښې ئے څهٔ کمے هم او نهٔ کړو او اوبهٔ ئے هم ډیرے توئ نهٔ کړے. او حدیث ئے بیان کړو او په هغے کښې ئے دا هم اوے. چه رسول الله ﷺ په دغه شپه په نولس کلمو سره دُعا اوکړه. سلمهؓ ویلی دی چه ماته کریبؒ بیان کړے دے. مګر ما ته په هغے کښې صرف دولس یادے دی. او باقي م هیرے شوے دی. رسول الله ﷺ اووے یا اللهؓ کړے څما په زړهٔ کښې نور. او څما په ژبه کښې نور او څما په غوږونو کښې نور. او څما دپاسه نور او څما د لاندے نور. او څما نه ښی طرفته نور او څما نه ګس طرفته نور او څما نه مخکښې نور او روستو نور. او کړے څما په زات کښې نور او زیات کړے ماله نور.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ رَقَدْتُ فِي بَيْتِ
مَيْمُونَةَ لَيْلَةَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عِنْدَهَا لِأَنْظُرَ كَيْفَ صَلَاةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ قَالَ فَتَحَدَّثَ النَّبِيُّ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَهْلِهِ سَاعَةً ثُمَّ رَقَدَ وَسَاقَ
الْحَدِيثَ وَفِيهِ ثُمَّ قَامَ فَتَوَضَّأَ وَاسْتَنَّ

د ابن عباسؓ نه روایت دے هغوی ویلی دی چه زهٔ اوده شوم (د مسلمانانو د مور او د خپلے ترور) میمونےؓ کور کښې چه په دغه شپه کښې رسول الله ﷺ هم هلته وو. چه زهٔ د هغهٔ د شپے مونځ اووینم بیا څهٔ لږ ساعت هغهٔ د خپلے بی بی سره خبرے کولے. بیا اودهٔ شو. او بیان کړے ئے دے حدیث او په دے کښې دا هم دی. چه بیا پاڅیدو او اودس ئے اوکړو. او مسواک ئے اوکړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ رَسُولِ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَيْقَظَ فَتَسَوَّكَ
وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يَقُولُ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ
وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ
لِأُولِي الْأَلْبَابِ فَقَرَأَ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ حَتَّى خَتَمَ
السُّورَةَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فَأَطَالَ فِيهِمَا

عبد الله بن عباسؓ یوه شپه د رسول الله ﷺ سره اودهٔ شو. بیا هغه راویښ شو مسواک ئے اوکړو. او اقدس ئے اوکړو. او هغه دا ایتونه لوستل د إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ نه واخله د سورت د اخره پورے. بیا اودریدو او دوه رکعتونه ئے اوکړل او په هغے کښې ئے ډیر اوږد قیام اوکړو. او رکوع هم اوسجده هم بیا اودهٔ شو. تردے پورے چه خنرارے ئے

الْقِيَامَ وَالرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سِتَّ رَكَعَاتٍ كُلَّ ذٰلِكَ يَسْتَاكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيَقْرَأُ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ فَأَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ فَخَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ وَهُوَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا وَفِي لِسَانِي نُورًا وَاجْعَلْ فِي سَمْعِي نُورًا وَاجْعَلْ فِي بَصَرِي نُورًا وَاجْعَلْ مِنْ خَلْفِي نُورًا وَمِنْ أَمَامِي نُورًا وَاجْعَلْ مِنْ فَوْقِي نُورًا وَمِنْ تَحْتِي نُورًا اَللّٰهُمَّ أَعْطِنِي نُورًا

شروع کړو. غرض دا چه دغه شان ئے درے خله اوکړل او شپږ رکعته ئے اوکړل. هر وار به ئے مسواک کوو او اودس به ئے کولو. او دغه اٰیتونو لره به ئے لوستل. بیائے درے رکعته وتر اوکړل او مؤذن اٰذان ورکړو بیا هغهٔ مانځهٔ ته راووتو او دا دُعا ئے اوکړه. د اللهمَّ نه د اٰخره پورے. یا الله کړے خما په زړهٔ کښې نور او خما په ژبه کښې نور. او کړے خما په غوږونو کښې نور او خما په سترګو کښې نور. او خما نه روستو نور او خما نه مخکښې نه نور او خما دپاسه نور او خما د لاندے نور. یا الله راکړے مالره نور.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً

ابن عباس ؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ به د شپے مونځ دیارلس رکعته کولو.

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَةَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ أَوْتَرَ فَذٰلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً

زید بن خالد جهنی ؓ وئیلی دی . ما اووے چه نن شپه د رسول الله ﷺ د شپے مونځ ګورمه نو هغهٔ دوه رکعته لنډ اوکړل (تَحِيَّةُ الْوُضُوءِ) بیائے دوه رکعته اوکړل او اوږد نه اوږد او د اوږد نه اوږد. بیائے دوه رکعته نور چه هغه د هغے نه کم وو. بیا دوه رکعته نور چه هغه د هغے نه هم کم وو. بیا دوه رکعته نور چه هغه د هغے نه هم کم وی. بیا دوه رکعته نور چه هغه د هغے نه هم کم وو. بیائے وتر اوکړل (یعنی یو رکعت) دا ټول مونځ دیارلس رکعتونه شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَانْتَهَيْنَا إِلَى مَشْرَعَةٍ فَقَالَ أَلَا تُشْرِعُ يَا جَابِرُ قُلْتُ بَلَى قَالَ فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

جابر ؓ وئیلی دی چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښې وم. او مونږ دواړه په یو ګُدر باندے اورسیدو. نو حضرت ﷺ اوفرمایل. اے جابر! ته پورے اوځے؟ ما اووے آو. بیا رسول الله ﷺ پورے وتو او زهٔ هم بیا هغه غټ اودسماتی ته لاړو او ما د هغهٔ دپاره د اودس اوبهٔ

وَأَشْرَعْتُ قَالَ ثُمَّ ذَهَبَ لِحَاجَتِهِ وَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا قَالَ فَجَاءَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ خَالَفَ بَيْنَ طَرَفَيْهِ فَقُمْتُ خَلْفَهُ فَأَخَذَ بِأُذُنِي فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ

کیښنودے او هغه راغے اودس ئے اوکړو. بیا اودریدلو. او یوه کپړه ئے واغوستله او مونځ ئے شروع کړو. چه د هغے کپړے ښیٔ غاړه ئے گس طرفته او گسه غاړه ئے ښی طرفته غورځولے وه. او زهٔ د هغهٔ نه شاته اودریدم. هغهٔ خما غوږ اونیوو ښی طرفته ئے کړم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ لِيُصَلِّيَ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ

حضرت عائشهؓ فرمائی. چه رسول اللهﷺ چه به کله د شپے مونځ شروع کولو. نو اول به ئے دوه رکعته اوکړل.

عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَلْيَفْتَتِحْ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ

حضرت ابوهریرهؓ د نبی کریمﷺ نه روایت کړے دے چه هغه فرمایلی دی چه کله څوک د شپے د مونځ کولو دپاره اودریږی نو اول د خپل مونځ دوه ؤلنډو رکعتونو نه شروع کوی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيَّامُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ أَنْتَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ وَقَوْلُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَأَخَّرْتُ وَأَسْرَرْتُ وَأَعْلَنْتُ أَنْتَ إِلٰهِي لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ

ابن عباس ویلیؓ دی چه رسول اللهﷺ به هر کله د شپے د مانځهٔ دپاره پاځیدو. نو د اَللّٰهُمَّ نه د اخره پورے به ئے ویلو. یعنی یا الله ټول صفتونه ستا دپاره دی. تهٔ د زمکے او د آسمان رڼرائے. او تا لره تعریف دے. تهٔ سنبهالونکے د زمکے او آسمانونو ئے او تا لره تعریف دے. تهٔ د آسمان او زمکے او څهٔ چه په دے کښی دی د ټولو پالونکے ئے. تهٔ رښتونے ئے ستا وعده رښتونے ده. ستا خبره رښتونے ده ستا ملاقات رښتونے دے. او ستا جنت حق دے یعنی رښتونے دے. دوزخ حق دے قیامت حق دے. یا الله! زهٔ ستا خبره منم او پتا باندے ایمان راوړم. او په تا باندے اعتماد کوم. او ستا په لوری ښکته کیږم. او ستا سره ملګرے د نورو سره جنګ کوم. او خاص ستا نه فیصله غواړم. پس تهٔ خما رومبی روستی پټ او ښکاره ګناهونو لره اوبخښے. یا الله! بس تهٔ خما معبود ئے ستا نه سوا بل معبود نشته

مسلمؒ ویلی دی. او مونږ ته شیبان روایت کړے دے. هغهٔ ته مهدی

چه د ميمون ځوئی دے. هغۀ ته عمران قصير ، هغۀ ته قيس، هغۀ ته طاؤس ، هغۀ ته ابن عباسؓ ، هغۀ ته نبی كريم ﷺ . دا حديث او لفظ د هغه راويانو نږدے نږدے دے.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ قَالَتْ كَانَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ

ابوسلمهؓ د عالی جناب حضرت عائشے أُم المؤمنينؓ نه تپوس اوكړو. چه رسول اللهﷺ چه به د شپے پاڅيدو نو د خپل مانځۀ په شروع كښں به څے څۀ ويل؟ هغوی اوفرمايل. چه د اللّٰهم نه واخله د اخره پورے. يعنی اے الله ! پالونكيه د جبرائيل او ميكائيل او اسرافيل (جبرائل عليه السلام او ميكائيل دواړه د رحمت فرښتے دی. او اسرافيل د هغوی او د خدائے په مينځ كښں رسول دے) د آسمانونو او د زمكے پيدا كولو والا. ظاهر او پټ پيژندلو والا ته د خپلو بنديګانو په مينځ كښں فيصله كوے په هغه څۀ كښں چه په هغے كښں اختلاف كوی د حق په اجازت سره. بيشكه تۀ نيغه لار ښائے هغه چا ته چه تۀ غواړے.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي

د حضرت علی مرتضیٰؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ چه به كله په مانځۀ اودريدو نو د إِنِّي وَجَّهْتُ نه واخله د پورے به ئے لوستلو. يعنی ما خپل مخ د هغۀ په طرف كړو چا چه زمكه او آسمان جوړ كړی دی. د يو طرف شوم او زۀ د مشركانو نه نۀ يم او د مسلمانانو نه يم يا الله ! تۀ بادشاه ئے بل څوك معبود نشته مګر تۀ ئے. تۀ ځما پاللو والا ئے او زۀ ستا غلام يم. ما په ځان باندے ظلم كړے دے. او د خپلو ګناهونو اقرار كوم. پس اوبخښے ځما ټولو ګناهونو لره. ځكه چه ګناهونو لره څوك نۀ شی بخښلے مګر تۀ او اوښائے ماته صحيح عادتونه چه نۀ شی ايزده كولے هغے لره مګر تۀ او لرے اوساتے ما لره د بدو عادتونو نه چه نۀ شی لرے ساتلے هغے لره څوك مګر تۀ زۀ ستا د خدمت دپاره

فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الأَخْلاَقِ لاَ يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لاَ يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلاَّ أَنْتَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ وَإِذَا رَكَعَ قَالَ اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي وَعَظْمِي وَعَصَبِي وَإِذَا رَفَعَ قَالَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الأَرْضِ وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ وَإِذَا سَجَدَ قَالَ اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ثُمَّ يَكُونُ مِنْ آخِرِ مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ

حاضر یم او ستا تابعدار یم او ټول خیر ستا په لاسونو کښې دے. او د شر نه ستا په طرف نږدیکت حاصلیدے نۀ شي (یا شر یواځې ستا په طرف منسوب کیدے نۀ شي. مثلا خالق القردة والخنازیر نۀ شي ویلے کیدے. یا شر ستا په طرف نۀ ختیږي لکه څنګه چه کلمه طیبه او عمل صالح ختیږي. یا څۀ مخلوق ستا په واسطه څۀ شر نۀ دے [illegible] زمونږ دپاره شر وی ولې چه مونږ بشر یو ځکه چه هر څیز لره تا د حکمت سره جوړ کړے دے) ځما توفیق ستا د طرفنه دے. او ځما التجا ستا طرفته ده. ته لوئے برکت والا او بلند ذات والائے. زۀ ستا نه مغفرت غواړم او ستا په طرف بښکته کیږم. او کله چه به ئے رکوع کوله نو د اَللّٰهُمَّ نه به ئے د وَعَصَبِي پورې لوستلو. یعنی اے الله زۀ ستا دپاره ښکته کیږم او په تا باندے یقین لرم. او ستا فرمانبرداریم. ښکته دی ستا دپاره ځما غوږونه او ځما مغز، او ځما سترګے او ځما هډوکی او ځما پټهے. او کله چه به ئے سر اوچتولو نو د اَللّٰهُمَّ نه به ئے د مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ پورے لوستلو. یعنی اے الله! اے ځما پروردګاره! حمد ستا دپاره دے د ټولو آسمانونو او د زمکو نه ډک او د هغې په مینځ کښې چه څۀ دی د هغې نه ډک د هغې نه پس څومره چه تۀ غواړے هغه ډک او کله چه به ئے سجده کوله نو د اللّٰهم نه به ئے د خَالِقِيْنَ پورے لوستلو. یعنی اے الله! ما خاص تا ته سجده اوکړه. او پتا باندے ایمان لرم. او ستا فرمانبرداریم. ځما مخ د هغه چا دپاره سجده اوکړه چا چه هغه جوړ کړے دے او تصویر ورله ویستلے دے او ددغے تصویر غوږونو او سترګو لره چوکی دی. لوئے برکت والا دے. د ټولو جوړونکو نه ښۀ بیا به ئے په آخر کښې د تشهّد او سلام په مینځ کښې ویل. د اللّٰهم نه د اخره پورے. یا الله اوبخښے ما لره هغه څۀ کوم چه ما مخکښې کړی دی او

أَنْتَ

کوم چه ما روستو کړی دی او کوم چه ما پټ کړی او کوم چه ما ظاهر کړی دی او څهٔ چه ما د حد نه زیات کړی. او په کومو چه تهٔ پوهه ئے خما نه زیات تهٔ د ټولو نه مخکښې ئے او د ټولو نه به روستو ئے ستا نه سوا څوک معبود نشته.

عَنِ الْأَعْرَجِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلَاةَ كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ وَجَّهْتُ وَجْهِي وَقَالَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ وَقَالَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ وَقَالَ وَصَوَّرَهُ فَأَحْسَنَ صُوَرَهُ وَقَالَ وَإِذَا سَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ وَلَمْ يَقُلْ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ

اعرج ددغه سند سره ویلی دی چه رسول الله ﷺ چه به کله مونځ شروع کولو الله اکبر به ئے اووے. او وَجَّهْتُ وَجْهِي به ئے اولوستو او أَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ به ئے اووے. او کله چه به ئے خپل سر د رکوع نه اوچتولو نو سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ به ئے اووے. یعنی الله واؤریدو چا چه د هغهٔ صفت اوکړو. اے خما ربه! او ټول تعریفونه تا لره دی. او ویل به ئے وَصَوَّرَهُ فَأَحْسَنَ صُوَرَهُ او ویل به ئے کله چه به ئے سلام ګرځوو. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ د د اخر د حدیثه پورے. او د تشهّد او د سلام د مینځ ذکر ئے نهٔ دے کړے.

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَطْوِيلِ الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ

باب: په تهجدو کښې د اوږد قرأت مستحب کیدل

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَافْتَتَحَ الْبَقَرَةَ فَقُلْتُ يَرْكَعُ عِنْدَ الْمِائَةِ ثُمَّ مَضَى فَقُلْتُ يُصَلِّي بِهَا فِي رَكْعَةٍ فَمَضَى فَقُلْتُ يَرْكَعُ بِهَا ثُمَّ افْتَتَحَ النِّسَاءَ فَقَرَأَهَا ثُمَّ افْتَتَحَ آلَ عِمْرَانَ فَقَرَأَهَا يَقْرَأُ مُتَرَسِّلًا إِذَا مَرَّ بِآيَةٍ فِيهَا تَسْبِيحٌ سَبَّحَ وَإِذَا مَرَّ بِسُؤَالٍ سَأَلَ وَإِذَا مَرَّ بِتَعَوُّذٍ تَعَوَّذَ ثُمَّ رَكَعَ فَجَعَلَ يَقُولُ

حذیفهؓ ویلی دی چه ما یو شپه د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو او هغهٔ سورة بقره شروع کړه. ما په زړهٔ کښې اووے. چه کیدے شی حضرتؐ به په سلو ایتونو باندے رکوع کوی. بیا هغه مخکښې لاړو. بیا ما خیال اوکړو چه کیدے شی په دوه رکعته کښې به پوره سورة لولی. بیا هغهٔ مخکښې لاړو. بیا ما خیال اوکړو چه حضرتؐ به په پوره سورة باندی رکوع کوی بیا هغه سورة النسآء شروع کړۀ او هغه ئے هم ټول اولوستهٔ بیا هغهٔ سورة ال عمران شروع کړو. او هغهٔ په قلاره قلاره لوستلو. او کله چه به تیریدو په داسے ایت باندے چه په هغې کښې به تسبیح وه هغهٔ به سبحان الله وے. او کله چه به د سوال په ایت باندے تیریدو نو سوال

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ قَامَ طَوِيلًا قَرِيبًا مِمَّا رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ فَقَالَ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى فَكَانَ سُجُودُهُ قَرِيبًا مِنْ قِيَامِهِ قَالَ وَفِي حَدِيثِ جَرِيرٍ مِنَ الزِّيَادَةِ فَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

به ئے کولو. او کله چه به د تعوّذ په ایت باندے تیریدو نو پناه به ئے غوښتله بیا هغهٔ رکوع اوکړه اواوئے ویل سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ یعنی پاک دے خما پروردګار لوئ والااو د هغهٔ رکوع هم د قیام برابر وه. بیائے اووے. واوریدو الله چا چه د هغهٔ تعریف اوکړو. بیا د ډیر وخته پورے رکوع ته نږدے ولاړ وو. بیائے سجده اوکړه. بیائے اووے خما رب پاک دے اوچت ذات والا. او د هغهٔ سجده هم قیام ته نږدے وه (په اوږدوالی کښې) او د جریرؓ په روایت کښې دا خبره زیاته ده. چه هغهٔ اووے واوریدل الله چا چه د هغهٔ تعریف اوکړو. اے خما ربه ! خاص تالره ثنا ده.

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَطَالَ حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سَوْءٍ قَالَ قِيلَ وَمَا هَمَمْتَ بِهِ قَالَ هَمَمْتُ أَنْ أَجْلِسَ وَأَدَعَهُ

ابو وائل ویلی دی چه عبد اللهؓ وائی ما د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو او هغهٔ قراءت ددے پوری اوږد کړلو چه ما د یوے بدے خبری اراده اوکړله. چا تپوس اوکړو. چه تا څهٔ اراده اوکړه. هغوی اووے. چه ما غوښتل چه کینم او دهٔ لره پریږدم.

بَابُ مَا رُوِيَ فِيمَنْ نَامَ اللَّيْلَ أَجْمَعَ حَتَّى أَصْبَحَ

باب : د تهجّدو ترغیب اګر کهٔ لږ وی

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ نَامَ لَيْلَةً حَتَّى أَصْبَحَ قَالَ ذَاكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنَيْهِ أَوْ قَالَ فِي أُذُنِهِ

عبد اللهؓ ویلی دی چه د رسول الله ﷺ په خواه کښې د یو سړی ذکر اوکړے شو چه هغه د سحره پورے اودهٔ دے (یعنی تهجدو ته نهٔ پاسی) حضرتؐ اوفرمایل د هغهٔ په غوږ کښې یا په دواړو غوږونو کښې شیطان متیازے کړی دی[1].

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَقَهُ وَفَاطِمَةَ فَقَالَ أَلَا

د حضرت علیؓ نه مروی دے چه یو ځل رسول الله ﷺ د شپے د فاطمےؓ د لیدو دپاره دغه شان تشریف یوړلو او اوئے فرمایل تاسو

[1] . یا خو دا ستعاره ده یعنی هغه د شیطان فرمابردار دے. یا شیطان هغهٔ لره خراب کړے دے یائے ذلیل او سپک کړے دے. یا حقیقت دے چه د هغے شارع علیه الصلوة والسلام خبر ورکړے دے.

تُصَلُّونَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا أَنْفُسُنَا بِيَدِ اللهِ فَإِذَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَنَا بَعَثَنَا فَانْصَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قُلْتُ لَهُ ذَٰلِكَ ثُمَّ سَمِعْتُهُ وَهُوَ مُدْبِرٌ يَضْرِبُ فَخِذَهُ وَيَقُولُ وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا

خلق مونځ نهٔ کوئ (یعنی تهجد) نو ما عرض اوکړو چه اے د خدائے رسوله زمونږ روحونه د الله پاک په لاس کښ دی هغه چه کله اوغواړی مونږ پریږدی. هر کله چه ما دا اووے نو رسول الله ﷺ واپس شو. او ما واورېدل چه هغه فرمایلو او خپه ورون ئے په لاس باندے وهلو (دا د عربو قاعده ده د افسوس په وخت) اوفرمایل ئے چه انسان د ټولو څیزونو نه زیات جګړه کونکے دے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ ثَلَاثَ عُقَدٍ إِذَا نَامَ بِكُلِّ عُقْدَةٍ يَضْرِبُ عَلَيْكَ لَيْلًا طَوِيلًا فَإِذَا اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ وَإِذَا تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عَنْهُ عُقْدَتَانِ فَإِذَا صَلَّى انْحَلَّتِ الْعُقَدُ فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ

ابوهریرهؓ به دے خبر لره د رسول الله ﷺ پورے رسولو او هغهؓ فرمایلی دی چه شیطان ستاسو نه د هر یو په څټ باندے درے غوټے ورکوی. هر کله چه هغه اوده کیږی نو په هره غوټه باندے پوکی چه اوس شپه لویه ده. بیا چه هر کله څوک بیدار شو او هغه الله پاک لره یاد کړو. نو یوه غوټه کھولاؤ شوه. او کله چه ئے اودس اوکړو. نو دویمه غوټه پرانستے شوه. او کله چه ئے مونځ اوکړو نو ټولے غوټے کھولوؤ شوے. بیا هغه صباح په خندا او خوشحالئ او په ښهٔ مزاج سره پاسی او کهٔ داسے اونهٔ کړی نو ګنده زړهٔ او سست پاڅی[2].

بَابُ اسْتِحْبَابِ صَلَاةِ النَّافِلَةِ فِي بَيْتِهِ

باب : د نفل مونځ په کور کښ مستحب کیدل

---

[1] : هغوی ته د هغهٔ دا جواب غوره را نغے. په دے ځائے باندے د خپل قصور اقرار او عذر پکار وو. ځکه هغه دا ایت اولوستو. د دے حدیث نه د تهجدو ترغیب ثابت شو. او د بنده خپلو دوستانو ته حکم کول او د خپلو خلقو دپاره د امام خبر ګیری او په مصالح دین او دنیا کښ رعایت کول. او معلومه شوه چه کله څوک د ناصح نصیحت قبول نهٔ کړی. نو په هغهٔ باندے به ملامتیا نهٔ کوی او څنګ به تر نه اوکړی. مګر دا کهٔ په عتاب کښ څهٔ بل مصلحت وینی.

[2] : تهجد ګزار اکثر خوش مزاجه پاک طینت او صفا طبیعت، نیک او چالاک وی. لکه چه دا هم یوښکلے ریاضت دے چه بدن لره غوړوی. او په دے حدیث کښ څو فائدے دی. اول د ویخیدو په وخت یا د الهی کول جمع کړی دی. دویم د ویخ کیدو په وخت اودس کول او مونځ کول اګر کهٔ د لږ نه لږ وی. دریم معلومه شوه چه په انسان باندے د شیطان غلبه کیږی. څلورم معلومه شوه چه د شیطان دفع کونکے د ذکر الهی اودس او مونځ دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اجْعَلُوا مِنْ صَلَاتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا

عبد الله بن عمر ؓ وايي دي چه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چه خپل څهٔ مونځونه په كورونو كښې كوئ. او د كور نه مقبره مهٔ جوړوئ[1].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِي مَسْجِدِهِ فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلَاتِهِ فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلَاتِهِ خَيْرًا

جابر ؓ وايي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي هر كله چه څوک ستاسو نه په خپل جماعت كښې مونځ كوي نو لږه حصه د مانځهٔ د خپل كور د پاره پريږدي. ځكه چه الله تعالى ددهٔ په مانځهٔ سره د هغهٔ په كور كښې خير راولي.

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ وَالْبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ

د ابو موسى ؓ نه مروي دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه په كوم كور كښې د الله ؐ ياد كيږي او په كوم كښې نهٔ كيږي. هغه په مثل د ژوندي او مړ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ

ابوهريره ؓ وايي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه د خپلو كورونو نه قبرستان مهٔ جوړوئ. ځكه چه شيطان د هغهٔ كور نه تښتي چه په هغے كښې سوره بقره لوستلے كيږي.

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ احْتَجَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُجَيْرَةً بِخَصَفَةٍ أَوْ حَصِيرٍ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِيهَا قَالَ فَتَتَبَّعَ إِلَيْهِ رِجَالٌ وَجَاءُوا يُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ قَالَ ثُمَّ جَاءُوا لَيْلَةً فَحَضَرُوا وَأَبْطَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُمْ قَالَ فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ فَرَفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ وَحَصَبُوا الْبَابَ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زيد بن ثابت ؓ وايي دي چه رسول الله ﷺ د كهجورو د پاڼو وغيره يا د پوزي وغيره يوه كمره جوړه كړه. او را اووتو رسول الله ﷺ او په هغے كښې ئے مونځ كول شروع كړل. بيا په هغهٔ پسے ډيرو خلقو اقتداء شروع كړه. بيائے د هغهٔ سره مونځ كول شروع كړل. بيا يوه شپه ټول خلق راغلل او هغهٔ ناوخته كړو. او د هغوی په طرف راوانهٔ وتلو خلقو د هغهٔ په طرف آوازونه اوچت كړه. او دروازه ئے په ګيټو ويشتله بيا رسول الله ﷺ د هغوی په طرف په غصه سره راووتو. او هغوی ته ئے اوفرمايل. چه كهٔ چرے ستاسو دا حالت دغه شان پاتے

[1] لكه چه قبرستان د مانځهٔ نه خالي وي يا مړي په قبرونو كښې پراتهٔ وي. دغه شان كورونو لره د مانځهٔ نه مهٔ خالي كوئ او ددے نه مراد نفل مونځ دے. او قاضي عياض رحمه الله وايي دي چه كله كله فرض هم په كورونو كښې كوئ چه ښځے ستاسو اقتداء كوي يا معصومان او مريض وغيره ددے د پاره چه كور كښې بركت وي.

مُغْضَبًا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا زَالَ بِكُمْ صَنِيعُكُمْ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُكْتَبُ عَلَيْكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالصَّلَاةِ فِي بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ خَيْرَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ

شي نو ماته ګمان شوے وو چه دا مونځ هم پتاسو باندے فرض نۀ شي تاسو په خپلو کورونو کښې مونځ ادا کوئ. ځکه چه سوا د فرضو نه د سړی غوره مونځ هغه دے چه هغه په کور کښې وی (چه د ریا نه لرے وی)

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا لَيَالِيَ حَتَّى اجْتَمَعَ إِلَيْهِ نَاسٌ فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَزَادَ فِيهِ وَلَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهِ

زید بن ثابت ؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ د پوزی نه په جماعت کښې یوه کمره جوړه کړه . او نبی کریم ﷺ په هغے کښې څو شپے مونځ ادا کړو. تردے پورې چه خلق جمع شول. او ذکر ئے کړو حدیث د وړاندے حدیث په شان او په دے کښې ئے دا زیات کړل چه کۀ چرے فرض وے پتاسو باندے دا مونځ نو تاسو به دے لره نۀ شو ادا کولے.

بَاب فَضِيلَةِ الْعَمَلِ الدَّائِمِ

باب : د همیشه کولو والا عمل فضیلت

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَصِيرٌ وَكَانَ يُحَجِّرُهُ مِنَ اللَّيْلِ فَيُصَلِّي فِيهِ فَجَعَلَ النَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ وَيَبْسُطُهُ بِالنَّهَارِ فَثَابُوا ذَاتَ لَيْلَةٍ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ فَإِنَّ اللهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا وَإِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ مَا دُووِمَ عَلَيْهِ وَإِنْ قَلَّ وَكَانَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَمِلُوا عَمَلًا أَثْبَتُوهُ

د ام المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه هغوی فرمایلی دی چه د رسول الله ﷺ یوه چټائی (څادر پوزے) وه. چه حضرت ﷺ به هغے لره د شپے چاپیره کړله او په هغے کښې به ئے مونځ کولو او خلقو هم د هغۀ سره مونځ کول شروع کړل. او د ورځے به ئے هغے لره خوروله بیا خلق یوه شپه راجمع شول. حضرت ؐ اوفرمایل اے خلقو ! دومره عمل کوئ څومره چه ستاسو طاقت وی. ځکه چه الله پاک په ثواب ورکولو سره نۀ ستړے کیږی. تاسو به په عمل سره ستړی شئ. او د الله ؒ په مخکښې ډیر غوره عمل هغه دے چه هغے لره همیشه کوئ اګر کۀ لږ وی. او د اولاد د محمد ﷺ دغه قاعده وه چه کله به ئے یو عمل کو نو هغه به ئے همیشه کوو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ قَالَ أَدْوَمُهُ وَإِنْ قَلَّ

د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے. چه د رسول الله ﷺ نه چا تپوس اوکړو. چه الله تعالی ته کوم یو عمل زیات محبوب دے. هغۀ اوفرمایل کوم چه همیشه وی اګر کۀ لږ وی.

عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ قَالَ قُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ كَيْفَ كَانَ عَمَلُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ كَانَ يَخُصُّ شَيْئًا مِنَ الْأَيَّامِ قَالَتْ لَا كَانَ عَمَلُهُ دِيمَةً وَأَيُّكُمْ يَسْتَطِيعُ مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَطِيعُ

علقمہؓ د ام المومنین حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو چه د رسول اللهﷺ د عبادت څۀ حال وو. آیا څۀ ورځے لره ئے د څۀ عبادت دپاره خاص فرمایلے وه؟ هغوی اوفرمایل چه نه. د هغۀؐ عبادت همیشه وو. او په تاسو کښې څوک د هغۀؐ په شان عبادت کولے شی کوم چه به هغۀ کوو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ تَعَالَى أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ قَالَ وَكَانَتْ عَائِشَةُ إِذَا عَمِلَتِ الْعَمَلَ لَزِمَتْهُ

اُمُ المؤمنین حضرت عائشهؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه د الله په مخکښې د ټولو نه خوږ عمل هغه دے چه همیشه وی اگر کۀ لږ وی. او راوی وائی د حضرت عائشےؓ عادت وو چه کله به ئے څۀ عبادت کوو هغے لره به ئے همیشه په ځان لازمه وو.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ وَحَبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ سَارِيَتَيْنِ فَقَالَ مَا هٰذَا قَالُوا لِزَيْنَبَ تُصَلِّي فَإِذَا كَسِلَتْ أَوْ فَتَرَتْ أَمْسَكَتْ بِهِ فَقَالَ حُلُّوهُ لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ فَإِذَا كَسِلَ أَوْ فَتَرَ قَعَدَ وَفِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ فَلْيَقْعُدْ

انسؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ جماعت ته راغے. او یوه رسۍ ئے د دوو ستنو په مینځ کښې اویزانده اولیده. هغۀ اووے دا څۀ دی؟ خلقو عرض اوکړو د دا د زینبؓ رسۍ ده. هغه مونځ کوی. بیا چه کله ناراسته شی یا ستړے شی. نو دے لره اونیسی. حضرتؐ اوفرمایل دے لره کھولاؤ کړئ. پکار ده چه ستاسو نه هر یو د خپلے خوشۍ مطابق مونځ ادا کړی. بیا چه کله سست شی یا ستړے شی. نو کینی دے. او د زهیر په روایت کښې دا دی چه پکار ده چه په ناستے اوکړی.

مسلمؒ ویلی دی . او بیان کړے دے مونږ ته دا روایت شیبان بن فروخ هغۀ ته عبد الوارث ، هغۀ ته عبد العزیز هغۀ ته انسؓ او هغوی د نبی کریمﷺ نه اوریدلی دی.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ الْحَوْلَاءَ بِنْتَ تُوَيْتِ بْنِ حَبِيبِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى مَرَّتْ بِهَا وَعِنْدَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى

عروه ته اُمُ المؤمنین د خدائے د دوست بی بی حضرت عائشےؓ خبر ورکړو. چه حولاء بنت تویت د هغے په خواه تیره شوه او رسول اللهﷺ هغے ته نزدے تشریف فرما وو. نو ما' حضرتؐ ته عرض اوکړو . چه دا حولاء بنت تویت ده. او خلق

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ هٰذِهِ الْحَوْلَاءُ بِنْتُ تُوَيْتٍ وَزَعَمُوا أَنَّهَا لَا تَنَامُ اللَّيْلَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنَامُ اللَّيْلَ خُذُوا مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ فَوَاللهِ لَا يَسْأَمُ اللهُ حَتّٰى تَسْأَمُوا

وائی چه دا د شپے تو له شپه نهٔ اودهٔ کیږی. بیا رسول الله ﷺ اوفرمایل. اختیاروئ عمل لره دومره قدرے چه پتاسو کښې خومره طاقت وی او په الله قسم دے چه تاسو به ستړی شئ. او الله نهٔ ستړے کیږی.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدِي امْرَأَةٌ فَقَالَ مَنْ هٰذِهِ فَقُلْتُ امْرَأَةٌ لَا تَنَامُ تُصَلِّي قَالَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ فَوَاللهِ لَا يَمَلُّ اللهُ حَتّٰى تَمَلُّوا وَكَانَ أَحَبَّ الدِّينِ إِلَيْهِ مَا دَاوَمَ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ وَفِي حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ أَنَّهَا امْرَأَةٌ مِنْ بَنِي أَسَدٍ

حضرت عائشے ویلی دی چه رسول الله ﷺ ځما خواله تشریف راوړو او ځما په خواه کښې یوه ښځه ناسته وه. هغهٔ تپوس اوکړو دا څوک ده؟ ما اووے. دا داسے ښځه ده چه دا نهٔ اوده کیږی. مونځونه کوی. حضرت اوفرمایل عمل دومره کوئ د څومره چه په تاسو کښې طاقت وی. قسم دے په الله باندے. چه الله په ثواب ورکولو نهٔ ستړی کیږی. او تاسو به ستړی شئ. او حضرت ته ددین په عبادتونو کښې هغه عبادت غوره وو چه هغه همیشه وی. او د ابو أسامه په روایت کښې دادی چه د بنی اسد د قبیلے یوه ښځه ده.

بَابُ أَمْرِ مَنْ نَعَسَ فِي صَلَاتِهِ أَوِ اسْتَعْجَمَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ أَوِ الذِّكْرُ بِأَنْ يَرْقُدَ أَوْ يَقْعُدَ حَتّٰى يَذْهَبَ عَنْهُ ذٰلِكَ

باب: چا ته چه په مانځهٔ کښې پریشانی راشی یا د قرآن لوستل گران شی، هغهٔ له اوده کیدل پکار دی

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَرْقُدْ حَتّٰى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَهُوَ نَاعِسٌ لَعَلَّهُ يَذْهَبُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ

حضرت عائشه وائی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. هر کله چه یو ته ستاسو نه په مانځهٔ کښې حواس خمسه ظاهری کار پریږدی نو پکار ده چه اوده شی چه د خوب غلبه ختم شی د هغے پورے. ځکه چه کله ستاسو نه د چا حواس خمسه کار پریږدی. نو گمان دے چه هغه د مغفرت غوښتلو اراده کوی او خپل ځان ته کنځل شروع کړی.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا

همّام بن منبّه وائی چه دا هغه حدیثونه دی چه

أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَاسْتَعْجَمَ الْقُرْآنُ عَلَى لِسَانِهِ فَلَمْ يَدْرِ مَا يَقُولُ فَلْيَضْطَجِعْ

ابوهريرهؓ د رسول الله ﷺ نه روایت کړی دی . د هغے نه یو داد ے چه هغهٔ اوفرمایل. کله چه څوک ستاسو نه د شپے مونځ کوی او د هغهٔ ژبه په قرآن کښں انخلی (د خوب د غلبے نه) نه پوهيږی چه څهٔ وائی . نو پکار دی چه څملی.

كِتَاب فَضَائِلُ الْقُرآن

د قرآن د فضائلو بيان

بَاب الْأَمْرِ بِتَعَهُّدِ الْقُرْآنِ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ يَرْحَمُهُ اللهُ لَقَدْ أَذْكَرَنِي كَذَا وَكَذَا آيَةً كُنْتُ أَسْقَطْتُهَا مِنْ سُورَةِ كَذَا وَكَذَا

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَمِعُ قِرَاءَةَ رَجُلٍ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ رَحِمَهُ اللهُ لَقَدْ أَذْكَرَنِي آيَةً كُنْتُ أُنْسِيتُهَا

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا مَثَلُ صَاحِبِ الْقُرْآنِ كَمَثَلِ الْإِبِلِ الْمُعَقَّلَةِ إِنْ عَاهَدَ عَلَيْهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ أَطْلَقَهَا ذَهَبَتْ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ مَالِكٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ وَإِذَا قَامَ صَاحِبُ الْقُرْآنِ فَقَرَأَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ذَكَرَهُ وَإِذَا لَمْ يَقُمْ بِهِ نَسِيَهُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَمَا لِأَحَدِهِمْ يَقُولُ نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ هُوَ نُسِّيَ اسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ فَلَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ

باب : د قرآن د حفاظت بيان

حضرت عائشےؓ فرمايلي دي چه رسول الله ﷺ د يو سړے قرآن لوستل په جماعت كښې اوريدلو. بيا هغهٔ اوفرمايل الله د په دهٔ باند رحمت اوكړي ما ته دا فلانے آيت راياد كړو چه هغے لره به ما د فلاني سورة نه پريخودهٔ.

حضرت عائشےؓ فرمايلي دي. نبي كريم ﷺ د يو سړے قرآن لوستل په جماعت كښې اوريدل. بيا هغهٔ اوفرمايل. الله د په دهٔ رحمت اوكړي. دهٔ ما ته يو آيت را په ياد كړ چه هغه ما هير كړے وو.

عبد الله بن عمرؓ ويلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي د قرآن يادونكي مثال داسے دے لكه د داسے اوښ چه د هغهٔ يوه خپه تړلې وي. كهٔ چرے د هغهٔ مالک د هغهٔ خيال ساتلو نو وي به ورسره او كهٔ چرے پريخودونے نو لاړو.

عبد الله بن عمرؓ د نبي كريم ﷺ نه په شان د حديث د مالک روايت كړے دے. او په دے كښې د موسیٰ بن عقبه د روايت نه دا زيات كړے دے چه قرآن يادولو والا چه كله پاڅي د شپے او د ورځے قرآن لولي نو ياد به ورته او كهٔ چرے نهٔ لولي نو پاتے شو هيرشو.

عبد اللهؓ ويلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه ډير بد دے په دوي كښې هغه چه هغه دا اووائي چه ما فلانے فلانے آيت هير كړو. بلكه داسے ويل پكار دي چه هير كړے شو. او د قرآن خيال او ياداشت ساتئ چه هغه د خلقو د سينو نه د هغه ځاروو نه زيات

الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ بِعُقُلِهَا

تختیدونکے دے چه د هغوی یوه خپه ترلی وی[1].

عَنْ شَقِيقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ تَعَاهَدُوا هٰذِهِ الْمَصَاحِفَ وَرُبَّمَا قَالَ الْقُرْآنَ فَلَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ مِنْ عُقُلِهِ قَالَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُلْ أَحَدُكُمْ نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ هُوَ نُسِّيَ

شقیق وائی چه عبد الله ؓ ویلی دی چه د قرآن خیال ساتئ: ځکه چه هغه د سینو نه د هغه چارپایانو نه زیات تختیدونکے دے چه د هغوی یو زنګون ترلے وی. او ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه څوک د ستاسو نه دا نه وائی. چه ما فلانے فلانے آیت هیر کړو. بلکه داسے د وائی چه یاد م نه شو.

عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِئْسَمَا لِلرَّجُلِ أَنْ يَقُولَ نَسِيتُ سُورَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ أَوْ نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ هُوَ نُسِّيَ

شقیق وائی ما د ابن مسعود ؓ نه اوریدلی دی چه ویلی ئے وو. چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هغهٔ فرمایلی وو. بنده لره دا ویل چه ځما فلانے فلانے آیت هیر شو ډیر زیات بد دی. بلکه دا ویل پکار دی چه ځما یاد نهٔ شو.

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعَاهَدُوا هٰذَا الْقُرْآنَ فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَلُّتًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا وَلَفْظُ الْحَدِيثِ لِابْنِ بَرَّادٍ

ابو موسیٰ ؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی. خیال کوئ د قرآن ځکه چه قسم دے په هغهٔ د چا په لاس کښ چه د محمد (ﷺ) روح دے. چه هغه (قرآن) د اوبښ نه زیات تختیدو والا دے. د خپل ترلو د ځائے نه.

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَحْسِينِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ

باب: په خوش آوازئ سره د قرآن د لوستلو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَذِنَ اللهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ

ابوهریره ؓ به دے حدیث لره د نبی ﷺ پورے رسولو. چه هغهٔ فرمایلی دی چه الله تعالی په داسے محبت سره څهٔ څیز نهٔ اوری لکه چه نبی ﷺ خوش آواز لره. چه هغه په خوش آوازئ سره قرآن لره لولی[2].

---

[1] اکثر د اوښ رومبئے خپه یعنی زنګون ترلے کیږی او هغه په دریو خپو سره هم تلے شی. دغے ته عقل وائی. او د هیر شو وینا لره هغهٔ صلعم مکروه ګنړل دد ے نه د ویلو والاپے پرواهی او غفلت وتلے شی. او الله تعالی د کافرانو په واسطه فرمانی: أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسَىٰ. یعنی تا ته زمونږ آیتونه راغلل او تا هغے لره هیره کړل دغه شان به نن ورځ هیر کړلے شے (یعنی د قیامت په ورځ)، او دا کراهت تنزیهی دے.

[2] د اذن او سماع دواړو معنی په لغت کښ د اوریدو ده. او دا یو صفت دے د پروردګار تعالی جل شانه چه مومن لره په دے باندے بلاکیف مثل او صفاتو نه ایمان راوړل ضروری دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا أَذِنَ اللهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ

ابوهریرهؓ د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه الله تعالی په دے شان څهٔ خیز لره نهٔ اوری په کوم شان چه د خوش آوازه نبی ﷺ آواز اوری چه هغه په اوچت آواز سره قرآن لولی.

مسلمؒ ویلی دی او روایت کړے دے مونږ ته یحیٰی بن ایوب او قتیبه بن سعید او ابن حجر. تولو ویلی دی چه روایت کړے دے زمونږ نه اسمٰعیلؒ، د دوی نه محمد بن عمروؓ، د دوی نه ابی سلمهؓ، د دوی نه ابوهریرهؓ، دوی د نبی ﷺ نه د یحیٰی بن بُکیر د روایت په شان. مګر یحیٰی په خپل روایت کښې كَأَذَنِهِ ویلی دی.

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ أَوِ الأَشْعَرِيَّ أُعْطِيَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ

بریدهؓ ویلی دی. رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه عبد الله بن قیسؓ یائے فرمایلی دی چه اشعریؓ له یو آواز ورکړے شوے دے د داؤد علیه السلام د اولاد د آوازونو نه

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأَبِي مُوسَى لَوْ رَأَيْتَنِي وَأَنَا أَسْتَمِعُ لِقِرَاءَتِكَ الْبَارِحَةَ لَقَدْ أُوتِيتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ

ابو موسٰیؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ ابو موسٰی ته اوفرمایل کهٔ چرے تا زهٔ لیدلے کله چه ما پرون شپه ستا قراءت اوریدهٔ (نو ډیر به خوشحاله وے) بیشکه تا لره یو آواز درکړے شوے دے د داؤد علیه السلام د اولاد د آوازونو نه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ الْمُزَنِيِّ يَقُولُ قَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فِي مَسِيرٍ لَهُ سُورَةَ الْفَتْحِ عَلَى رَاحِلَتِهِ فَرَجَّعَ فِي قِرَاءَتِهِ قَالَ مُعَاوِيَةُ لَوْلاَ أَنِّي أَخَافُ أَنْ يَجْتَمِعَ عَلَيَّ النَّاسُ لَحَكَيْتُ لَكُمْ قِرَاءَتَهُ

عبد الله بن مغفلؓ ویلی وو چه نبی کریم په کوم کال چه مکه فتح شوه پخپله لار کښې سورة الفتح لوستلو (یعنی اِنَّا فَتَحْنَا) پخپله سورلئ باندے آواز به ئے دُهراوولو په خپل قراءت کښې. معاویهؓ ویلی دی. چه کهٔ چرے ماته ددے یره نهٔ وے چه خلق به ما ګیر کړی نو ما به د هغهٔ قراءت تاسو ته اوورولے وو[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ

عبد الله بن مغفلؓ ویلی دی. ما اولیدهٔ رسول الله ﷺ لره د فتح مکے

[1] ترجیع ویلے شی د آواز خوزولو او ریولو ته چه هغه زیاته مزه ورکوی. او خوش آوازی په قرآن کښې کول په زړهٔ باندے د زیات اثر کولو باعث دی. خکه مستحب دی چه زیات په خوش آوازئ سره ئے لولی. مګر د سندرغارو او عاشقانو فاسقانو په آواز سره ئے لوستل بے ادبی ده.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ عَلَى نَاقَتِهِ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفَتْحِ قَالَ فَقَرَأَ ابْنُ مُغَفَّلٍ وَرَجَّعَ فَقَالَ مُعَاوِيَةُ لَوْلَا النَّاسُ لَأَخَذْتُ لَكُمْ بِذَلِكَ الَّذِي ذَكَرَهُ ابْنُ مُغَفَّلٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په ورځ پخپله اوښه باندے هغۀ سورة فتح لوستلو. او ابن مغفل په لوستو او آواز به ئے دهراوولو. معاويه اووے چه کۀ چرے خلق نۀ وے نو ما به هم هغه شان قراءت شروع کړے وو. لکه چه ذکر کړو هغے لره ابن مغفل د نبی کریم ﷺ نه

بَابُ نُزُولِ السَّكِينَةِ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ

باب: د قرآن د لوستلو په برکت سره د آرام نازليدل

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَقْرَأُ سُورَةَ الْكَهْفِ وَعِنْدَهُ فَرَسٌ مَرْبُوطٌ بِشَطَنَيْنِ فَتَغَشَّتْهُ سَحَابَةٌ فَجَعَلَتْ تَدُورُ وَتَدْنُو وَجَعَلَ فَرَسُهُ يَنْفِرُ مِنْهَا فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْآنِ

براء وئیلی دی چه یو سړی سورة کهف لوستلو. او د هغۀ خواه کښې یو آس تړلے شوے وو. په دوو اوږدو رسو باندے. پس په هغۀ باندے یوه وريخ راتلل شروع شو. او هغۀ په تاويدو شو او نزدے راغله او د هغۀ آس چه هغے لره اوليدۀ نو تختيدل ئے شروع کړو. بيا چه کله سحر شو هغه د نبی کریم ﷺ خواله راغے. او هغۀ ته ئے د هغے ذکر اوکړو. نو هغۀ اوفرمايل دا سکينه دے چه نازليږي د قرآن په برکت سره[1].

عَنِ الْبَرَاءِ يَقُولُ قَرَأَ رَجُلٌ الْكَهْفَ وَفِي الدَّارِ دَابَّةٌ فَجَعَلَتْ تَنْفِرُ فَنَظَرَ فَإِذَا ضَبَابَةٌ أَوْ سَحَابَةٌ قَدْ غَشِيَتْهُ قَالَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اقْرَأْ فُلَانُ فَإِنَّهَا السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ عِنْدَ الْقُرْآنِ أَوْ تَنَزَّلَتْ لِلْقُرْآنِ

براء وائی چه یو سړی سورة کهف لوستلو او په کور کښې یو ځناور تړلے وو پس هغه اوتختيدۀ. هر کله چه دۀ نظر اوکړو نو اوئے ليدل چه يوه وريخ ده چه هغے هغۀ لره پټ کړے دے. بيا هغۀ د دے ذکر نبی کریم ﷺ ته اوکړو. نو هغۀ اوفرمايل اے فلانيه! لوله څه ځکه چه تسکين دے چه نازليږي د قرآن د لوستو په وخت.

عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ بَيْنَمَا هُوَ لَيْلَةً يَقْرَأُ فِي مِرْبَدِهِ إِذْ جَالَتْ فَرَسُهُ فَقَرَأَ ثُمَّ جَالَتْ أُخْرَى فَقَرَأَ ثُمَّ جَالَتْ أَيْضًا قَالَ أُسَيْدٌ فَخَشِيتُ أَنْ تَطَأَ يَحْيَى فَقُمْتُ إِلَيْهَا فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فَوْقَ

أُسيد بن حضير د خپلو کهجورو په کهرياں کښې يوه شپه قرآن لوستل چه د هغۀ آس توپونه شرع کړل. او هغه په مخه لوستلو. بيا هغه په توپونو شو. بيا هغه لوستل شروع کړل نو هغوی اووے چه زۀ اوويريدم چه چرته يحيٰی د خپو لاندے نۀ کړی. نو زۀ د هغۀ په خوا

[1] د سکينه څو معنے دی. مختار او مزيداره په هغے کښې داده چه هغه د الله تعالی پيدا کړے يو څيز دے. چه په هغے کښې اطمينان او رحمت دے. او د هغے سره فرښتے دی. او د دے حديث نه معلومه شوه. چه په أمت کښې يو نيم سړے فرښتو لره ليدلے شی. او غوره والے د قراءت او د دے د رحمت د نزول سبب کيدل او د قراءت په وخت د فرښتو حاضريدل ثابت شو.

رَأْسِي فِيهَا أَمْثَالُ السُّرُجِ عَرَجَتْ فِي الْجَوِّ حَتَّى مَا أَرَاهَا قَالَ فَغَدَوْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ بَيْنَمَا أَنَا الْبَارِحَةَ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ أَقْرَأُ فِي مِرْبَدِي إِذْ جَالَتْ فَرَسِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأ ابْنَ حُضَيْرٍ قَالَ فَقَرَأْتُ ثُمَّ جَالَتْ أَيْضًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأ ابْنَ حُضَيْرٍ قَالَ فَقَرَأْتُ ثُمَّ جَالَتْ أَيْضًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأ ابْنَ حُضَيْرٍ قَالَ فَانْصَرَفْتُ وَكَانَ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا خَشِيتُ أَنْ تَطَأَهُ فَرَأَيْتُ مِثْلَ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ السُّرُجِ عَرَجَتْ فِي الْجَوِّ حَتَّى مَا أَرَاهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ كَانَتْ تَسْتَمِعُ لَكَ وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ يَرَاهَا النَّاسُ مَا تَسْتَتِرُ مِنْهُمْ

کښې لاړم او وریدم. او څهٔ ګورم چه یو سائبان خما د سر دپاسه دے چه په هغے کښې ډیوه بله ده. او هغه په پورته اوخته تردے پورے چه ما هغے لره بیا او نهٔ لیدو. بیا زهٔ سحر له د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو. یا رسول الله! د شپې ما په خپل کهریا کښې قرآن لوستلو چه یودم خما آس په توپلو نو شولو. نو رسول الله ﷺ اوفرمایل لوله څه. اے ابن حُضیر! هغوی عرض اوکړو چه زهٔ لوستو له لاړم. بیا هغهٔ په توپونو شو. بیا هغهٔ اوفرمایل چه لوله څه اے ابن حُضیر! هغوی وائی چه ما بیا لوستل شروع کړل. بیا هغه هغه شان په توپونو شو. بیا حضرت اوفرمایل لوله څه اے ابن حضیر! هغوی وائی چه کله زهٔ فارغ شوم. او یحیٰی د آس په خوا کښې وو نو خما سره یره شوه چه چرته یحیٰی لره د خپو لاندے نهٔ کړی. او ما اولیدو چه یو سورے شان چه په هغے کښې ډیوه بله وه او هغه پورته اوختو تردے پورے چه ما هغے لره نهٔ لیدلو. بیا رسول ﷺ اوفرمایل. دا فرښتے وے چه ستاسو قراءت ئې اوریدلو. کهٔ چرے تا لوستلے نو سحر کړے به ئې وو په دے شان چه خلقو هغه (فرښتو) لره لیدلے وے. او هغه به د هغوی د نظر نه پټے نهٔ وے.

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الْأُتْرُجَّةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ التَّمْرَةِ لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ

ابوموسیٰ اشعری وئیلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. مثال د هغه مؤمن کوم چه قرآن لولی. د ترنج په شان دے. چه خوشبو د هغے مزیدار او مزه د هغے ښهٔ ده. او مثال د هغه مؤمن چه هغه قرآن نه لولی د کهجورے په شان دے. چه په هغے کښې بوئی نشته. مګر مزه ئې خوږه ده. او مثال د هغه منافق چه هغه قرآن لولی. د ګل په شان دے چه بوئی د هغے ښهٔ دے او مزه د هغے ترښه ده. او مثال د هغه منافق چه هغه قرآن نه لولی. د مرغونی په شان دے چه په

كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ هَمَّامٍ بَدَلَ الْمُنَافِقِ الْفَاجِرِ

هغې کښې خوشبوئي هم نشته او مزه ئې ترښه ده.

د قتادهؓ نه هم دغه روایت ددغې اسناد سره مروي دے. مګر د همام په روایت کښې د منافق په بدله کښې فاجر دے.

بَابُ فَضِيلَةِ حَافِظِ الْقُرْآنِ

باب : د حافظ قرآن غوره والے

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ

د اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی . د قرآن مشّاق (ددے نه حافظ مراد کیدے شي) د هغه بزرګو فرښتو سره دے چه هغه د لوح محفوظ په خوا کښې لیکل کوي.او څوک چه قرآن لولي او په هغې کښې اوښتلي او دا ته محبت وي. نو دهٔ لره دوچند ثواب دے[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ عَلَى أَهْلِ الْفَضْلِ وَالْحُذَّاقِ فِيهِ وَإِنْ كَانَ الْقَارِئُ أَفْضَلَ مِنَ الْمَقْرُوءِ عَلَيْهِ

باب: د غوره انسان د خپلے درجے نه د کم انسان په مخکښې د قرآن لوستلو بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأُبَيٍّ إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ قَالَ اللهُ سَمَّانِي لَكَ قَالَ اللهُ سَمَّاكَ لِي قَالَ فَجَعَلَ أُبَيٌّ يَبْكِي

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ ابی بن کعبؓ ته اوفرمایل (دا د ټولو قاریانو سردار دے) چه الله عزت والا بزرګئ والا ما ته حکم اوکړو چه زهٔ ستا په مخکښې قرآن اولولم. هغوی عرض اوکړو چه ولے الله تعالی ځما نوم اخستے دے؟ هغهٔ اوفرمایل چه آو. الله تعالی ستا نوم ځما په مخکښې واخستو. نو

---

[1] : ددے نه دا نهٔ ده ثابته شوے چه د ښتونکی درجه د مشّاق او حافظ نه وړاندے ده.بلکه مطلب دادے چه دهٔ لره یو اجر د قرات دے او یو اجر د محنت دے

مسلم رحمه الله ویلی دي او روایت کړے دے مونږ ته محمد بن مثنی هغهٔ ته ابن عدي هغهٔ ته سعید. او مسلم رحمه الله ویلی دي چه روایت کړے دے ابوبکرؓ هغهٔ ته وکیعؓ هغهٔ ته هشام دواړو روایت کړے دے د قتاده نه د دغے سند سره. او د وکیعؓ په روایت کښې دا الفاظ دي. وَالَّذِي يَقْرَءُهُ وَهُوَ يَشْتَدُّ عَلَيْهِ لَهُ أَجْرَانِ. یعني څوک چه لولي او په هغهٔ باندے سختي وي د هغهٔ دپاره دوه ثوابونه دي.

ابی بن کعبؓ په ژړا شو[1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا قَالَ وَسَمَّانِي لَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَبَكَى

انسؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ ابی بن کعبؓ ته اوفرمايل چه الله تعالی ما ته حکم کړے دے چه زۀ تا ته لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا واوروم هغوی عرض اوکړو. الله ښما نوم تاسو ته اخستے دے؟ نو حضورﷺ اوفرمايل چه آو[2].

بَاب فَضْلِ اسْتِمَاعِ الْقُرْآنِ وَطَلَبِ الْقِرَاءَةِ مِنْ حَافِظِهِ لِلِاسْتِمَاعِ وَالْبُكَاءِ عِنْدَ الْقِرَاءَةِ وَالتَّدَبُّرِ

باب: قرآن اوريدل، د حافظ نه د هغې فرمائش کول او د قراءت په وخت ژړل او په هغې د سوچ کولو بيان

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأْ عَلَيَّ الْقُرْآنَ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا رَفَعْتُ رَأْسِي أَوْ غَمَزَنِي رَجُلٌ إِلَى

عبد اللهؓ وېلي دي چه ما ته رسول اللهﷺ اوفرمايل تۀ ښما په مخکښې قرآن اولوله ما عرض اوکړو چه اے د الله رسولهﷺ! زۀ ستا په مخکښې اولولم. او پتا باندے خاص نازل شوے دے؟ حضرتﷺ اوفرمايل. ښما زړۀ غواړي چه زۀ ئے د بل نه واؤرم بيا ما سورة النساء اولوستو. تردے پورے چه کله زۀ دے آيت ته اورسيدم فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا. نو ما سر اوچت کړو. يا ماله چا سکونډ راکړو نو

[1]: دا ژړل د شکر او بشاشت وو. چه لوئے نصيب دے ښما موتے خاورے چه رب الافلاک ښما نوم واخستو. دا نتيجه وه د قرآن سره د مينے او د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د سنتو د اتباع. او ددے حديث نه ثابته شوه چه کۀ چرے قرآن خپل شاګرد يا کمے درجے والا ته اوروی نو مستحب دی او حکمت په دے کښې دا وو چه د قرآن کريم په تلاوت او اورولو کښې څوک د چا نه شرم نۀ کوی. او هميشه علماء فضلاء هم خپلو شاګردانو ته اوروی.او ددے نه جلاليت شان د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه معلوميږی. او د هغۀ اهليت د تحمُل قرآن په باب کښې. او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم نه پس هغه د قاريانو اولوستونکو مقتدا شو. حضرت عمر رضی الله عنه هم په خپل دور د خلافت کښې چه کله د تراويح جماعت لره قائم کړو نو هم دغه ابی بن کعب رضی الله عنه لره ئے امام کړو.او په دے امامت کښې هغوی تولو موجوده صحابه کرامو رضی الله عنه جماعت ته شل رکعاته تراويح ورکړے په هغے باندے د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع اوشوه، او د نن پورے د اُمّت مسلمه مجتهدين او محدثين او عام مسلمانان په دے طريقه باندے عمل کونکی راروان دی. عارف

[2]: دا سورة چونکه مختصر او جامع اُصولِ دين دے. او کهمات اُمور ات تطهير صدور او د اخلاص د نور نه ډک دے. خکه ددے د اوريدو حکم اوشو. او کيدے شی چه هغه ته د څۀ قسم شبه وی. چه په دے کښې د هغې جواب مذکور وی.

جَنْبِي فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَرَأَيْتُ دُمُوعَهُ تَسِيلُ
عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ هَنَّادٌ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ اقْرَأْ عَلَيَّ
عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ اقْرَأْ عَلَيَّ قَالَ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي قَالَ فَقَرَأَ عَلَيْهِ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ النِّسَاءِ إِلَى قَوْلِهِ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا فَبَكَى قَالَ مِسْعَرٌ فَحَدَّثَنِي مَعْنٌ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهِيدًا عَلَيْهِمْ مَا دُمْتُ فِيهِمْ أَوْ مَا كُنْتُ فِيهِمْ شَكَّ مِسْعَرٌ

ما سر اوچت کړو او چه اوم کتل نو د حضرت اوښکے بهیدلے[1].
د اعمش نه دغه روایت دد ے اسناد سره مروی د ے. مګر په د ے کښ دومره خبره زیاته ده چه رسول الله ﷺ ماته اووے چه ځما په مخکښ قرآن اولوله او هغه په منبر باند ے وو[2].
ابراهیم ؒ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ عبد الله ابن مسعود ؓ ته اوفرمایل چه ته ځما په مخکښ قرآن اولوله. هغوی عرض اوکړو چه زۀ ستاسو په مخکښ اولولم، حال داد ے چه هغه خو په تا نازل شو ے د ے؟ هغۀ اوفرمایل. زۀ غواړم چه زۀ د ے لره د بل نه واورم. عرض دا چه عبد الله ؓ سورة النسآء د شروع نه اولوستۀ دد ے ایت پور ے فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا او هغۀ ژړل. مسعر ویلی دی. روایت کړ ے د ے ما ته معن هغۀ ته جعفر هغۀ ته د هغۀ پلار هغۀ ته ابن مسعود ؓ چه نبی کریم ﷺ اوفرمایل. شَهِيدًا عَلَيْهِمْ الاية یعنی زۀ د اُمت د حال نه واقف یم. د کومے پوری چه زۀ په دوی کښ یم یعنی ژوند ے وُم. مسعر ته شک د ے چه كُنْتُ ئے ویلی دی یا دُمْتُ ئے ویلی دی. معنٰی د دواړو یوه ده[3].

---

[1]: دد ے ایت معنٰی داده چه څنګه به وی کله چه مونږه غواړی د هر اُمت نه یو حال ښودلو والا. او تا لره به راغواړی دد ے تولو د حال ښودنے ته او په د ے ایت کښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم دامت لوئے اوچت شان معلومیږی. چه هغه به په ټولو امتونو باند ے ګواهی ورکوی. او د هر نبی تصدیق به کوی او دا ژړل د نبی کریم ﷺ لوئے درجے د خوشحالئ او مبارکبادئ او د احوال قیامت په یاد سره وو. او دد ے نه معلومه شوه. چه قرآن اوریدل او د هغے فرمائش کول مستحب دی. او د قرآن د اوریدو سره ژړل. او په هغے کښ غور او فکر کول د دین د ښو کارونو نه دی.

[2]: دد ے نه معلومه شوه چه قاری کۀ چرے لاند ے وی او اوریدونکے په اوچت ځائے نو دا بے ادبی نۀ ده.

[3]: حضرت ﷺ دا ایت د سورة النسآء چه کله واوریدۀ نو لکه د هغے په جواب کښ حضرت ﷺ د عیسٰی علیه السلام قول یاد کړو. چه هغه به په بارګاه الهی کښ عرض کوی. چه د کومے پور ے زۀ ژوند ے وُم د خپل اُمت د حال نه خبر وُم. بیا چه کله تازۀ پورته اوخیژولم. نو د هغوی په حال ته خبر نۀ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنْتُ بِحِمْصَ فَقَالَ لِي بَعْضُ الْقَوْمِ اقْرَأْ عَلَيْنَا فَقَرَأْتُ عَلَيْهِمْ سُورَةَ يُوسُفَ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ وَاللهِ مَا هٰكَذَا أُنْزِلَتْ قَالَ قُلْتُ وَيْحَكَ وَاللهِ لَقَدْ قَرَأْتُهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي أَحْسَنْتَ فَبَيْنَمَا أَنَا أُكَلِّمُهُ إِذْ وَجَدْتُ مِنْهُ رِيحَ الْخَمْرِ قَالَ فَقُلْتُ أَتَشْرَبُ الْخَمْرَ وَتُكَذِّبُ بِالْكِتَابِ لَا تَبْرَحُ حَتَّى أَجْلِدَكَ قَالَ فَجَلَدْتُهُ الْحَدَّ

عبد اللهؓ وائی چه زۀ په حمص کښې وُم. ماته خلقو اووے مونږ ته قرآن واؤروه. ما سورة یوسف اولوستۀ. بیا یو سړی اووے په الله قسم دے داسے نۀ دے نازل شوے. ما اووے هلاک شے په خدائے قسم دے چه ما خو دا د رسول الله ﷺ په مخکښې لوستلے دے. نو هغۀ اوفرمایل ښۀ د اولوستو. غرض دا چه ما لاد هغۀ سره خبرے کولے چه د شرابو بوئی د هغۀ د طرف نه راغے.نو ما اووے. تۀ شراب څکے او د الله کتاب دروغجن کوے. تۀ نۀ شے تلے د کومے پورے چه په تا باندے حد جاری نۀ کړم. بیا ما هغه په کوړو اووهو.

بَاب فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ وَتَعَلُّمِهِ

باب : په مانځۀ کښې د قرآن د لوستو او د قرآن د ایزده کولو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ أَنْ يَجِدَ فِيهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ

ابوهریرهؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. څوک ستاسو نه غواړی چه کله کورته واپس راځی نو درے حاملے او ښائے مومی. چه هغه ډیرے زیاتے څربے وی غټے غټے. مونږ اووے بیشکه. هغۀ اوفرمایل. پس درے آیتونه چه هغه بنده په مانځۀ کښې لولی غوره دی د هغۀ د ربو اوښانو نه چه هغه غټ او څاربۀ وی[1].

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ فَقَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ أَوْ

عقبه بن عامرؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ را اووتو. او مونږ خلق په دیوان خانه کښې وو. هغۀ اوفرمایل. ستاسو نه څوک غواړی. چه هر سحر بطحان یا عقیق ته لاړ شی؟ (دا دواړه بازارونه وو په مدینه کښې) او د

دے نه معلومه شوه چه پیغمبرانو علیهم السلام ته علم غیب نشته دے. او کوم خلق چه هغوی ته یا اولیاؤ ته د لرے لرے نه آواز کوی او د هغوی نه مدد غواړی. سخت کم عقل او مشرکان دی. اوالله تعالی دِ مونږ د شرک نه اوساتی آمین. (یو علم غیب دے یو انبا الغیب دے انباء الغیب شته ورته ۱۲)

[1] دا تشبیهه صرف د دنیا د خلقو د پوهے دپاره هغۀ صلعم اوفرمایله. گنی د قرآن آیاتونو د آخرت مزیدار نعمتونه به همیشه همیشه وی د رب العرش والسمٰوٰت په بارگاه علای کښې درجات عالیات زیاتولو والا او د جنت په اوچتو درجو خیژولو والا دی. په خلاف د دنیا د نعمتونو چه هغه سریع الزوال فناه کیدونکی دی.

إِلَى الْعَقِيقِ فَيَأْتِيَ مِنْهُ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ وَلاَ قَطْعِ رَحِمٍ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ نُحِبُّ ذٰلِكَ قَالَ أَفَلاَ يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَعْلَمُ أَوْ يَقْرَأُ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الإِبِلِ

هغه ځائے نه دوه اوښانے لویو لویو کوبونو والا راولی. بغیر د څهٔ ګناه نه او بغیر دد ے نه چه د چا خپلوان خلق تلفی اوکړی. نو مونږ عرض اوکړو. یا رسول الله ﷺ مونږ ټول د ے لره غواړو. نو حضرت اوفرمایل نو بیا ولے نهٔ ځی تاسو نه هر یو جماعت ته او ولے نهٔ ښائی یا نهٔ لولی دوه آیتونه د الله د کتاب چه هغه به غوره وی د هغهٔ دپاره د دوو اوښانو نه او درے غوره دی د دریو اوښانو نه او څلور غوره دی د څلورو اوښانو نه او په دی شان چه څومره آیتونه وی د دومره اوښانو نه غوره دی.

بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَسُورَةِ الْبَقَرَةِ

باب : د قرآن د لوستلو او د سورت بقره فضیلت

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ اقْرَءُوا الزَّهْرَاوَيْنِ الْبَقَرَةَ وَسُورَةَ آلِ عِمْرَانَ فَإِنَّهُمَا تَأْتِيَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ كَأَنَّهُمَا غَيَايَتَانِ أَوْ كَأَنَّهُمَا فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ أَصْحَابِهِمَا اقْرَءُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ وَلَا تَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ قَالَ مُعَاوِيَةُ بَلَغَنِي أَنَّ الْبَطَلَةَ السَّحَرَةُ

ابو امامه باهلی ؓ ویلی دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. قرآن لولئی دد ے دپاره چه هغه به د قیامت په ورځ د خپلو لوستونکو د سفارش دپاره راشی او دوه سورتونه پړقیدونکی لولئ سورة بقره او سورة ال عمران. ځکه چه هغه به د قیامت په میدان کښ راځی. ګویا دوه وریځے د ے یا دوه سوری دی یا دوه سیلونه دی د الوتونکو مرغانو او په بحث کولو سره به راځی د خپلو خلقو په طرف او سورة بقره لوئی. پس بیشکه اخستل د هغے برکت د ے. او پریخودل د هغے افسوس د ے. او جادوګر خلق د هغے مقابله نهٔ شی کولے.

عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْكِلَابِيِّ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَهْلِهِ الَّذِينَ كَانُوا يَعْمَلُونَ بِهِ تَقْدُمُهُ سُورَةُ الْبَقَرَةِ وَآلُ عِمْرَانَ وَضَرَبَ لَهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَمْثَالٍ مَا نَسِيتُهُنَّ بَعْدُ قَالَ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ ظُلَّتَانِ

نواس بن سمعان کلابی ؓ ویلی دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه قرآن به د قیامت په ورځ راوستلے شی. او هغوی لره هم چا چه په د ے باند ے عمل کولو. او سورة بقره او ال عمران به مخکښ مخکښ وی. او رسول الله ﷺ د هغے درے مثالونه ورکړل چه ما هغے لره د نن ورځے پور ے نهٔ دی هیر کړی. اول دا چه هغه داسے دی لکه دوه د وریځے ټکړے یا داسے دی لکه دوه تور سوری چه په

سُودَاوَانِ بَيْنَهُمَا شَرْقٌ أَوْ كَأَنَّهُمَا حِزْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا

هغې کښې رڼا پرقیږي. یا داسې دي لکه قطار شوي د چرچنړو دوه سیلونه او هغه دواړه به د خپل ملګري په طرف خبرې کوي[1].

بَاب فَضْلِ الْفَاتِحَةِ وَخَوَاتِيمِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ

باب : د سوره فاتحې او د سورة بقرې د آخري دوو ایتونو فضیلت

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَيْنَمَا جِبْرِيلُ قَاعِدٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ نَقِيضًا مِنْ فَوْقِهِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ هَذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ فَنَزَلَ مِنْهُ مَلَكٌ فَقَالَ هَذَا مَلَكٌ نَزَلَ إِلَى الْأَرْضِ لَمْ يَنْزِلْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ فَسَلَّمَ وَقَالَ أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ فَاتِحَةُ الْكِتَابِ وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ

عبد الله بن عباس وایلي دي چه یوه ورځ جبرائیل د نبی کریم ﷺ سره ناست وو. چه یو آواز ئې په ډیرزور د د دروازې د لرې کیدو واوریدو. او خپل سر ئې اوچت کړو او جبرائیل اووې . چه دا یوه دروازه ده د آسمان چه نن کهولاؤ شوه او چرته نئوه کهولاؤ شوې مګر نن ورځ بیا د هغې نه یوه فرښته راکوزه شوه او جبرائیل اووې. دا فرښته چه زمکې ته راکوزه شوه چرته نئ ده راکوزه شوی مګر د نن ورځ نه سوا . او هغې سلام اوکړو او اوئې ویل. زیرې درکوم تا له د دوو نورونو. چه تا ته عنایت کړی شوی دی او په تولو پیغمبرانو کښې یو نبی ته نئ دی میلاؤ شوی سوا ستا نه چه هغه یو سورة فاتحه دې. او دویم د سورة بقره خاتمه ده . یو حرف به د اهغې نه تاسو لوستې نئ وی چه د هغې غوښتلې شوې څیز به تاسو ته میلاو نئ شی.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ لَقِيتُ أَبَا مَسْعُودٍ عِنْدَ الْبَيْتِ فَقُلْتُ حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكَ فِي الْآيَتَيْنِ فِي سُورَةِ الْبَقَرَةِ فَقَالَ نَعَمْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآيَتَانِ مِنْ

عبد الرحمن بن یزید وائي زه د د ابومسعود سره د کعبې شریفې په خواه کښې میلاو شوم او ما اووې. ما ته یو حدیث ستا د ژبې رارسیدلې دې. د سورة بقره په فضیلت کښې. هغوی اووې چه آو رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه د سورة بقره آخری دوه ایتونه چه

[1] ددې حدیثونو نه لوئې فضیلت د سورة بقرې او ال عمران ثابت شو. او معلومه شوه چه د قرآن نه زیات خوک شفاعت کولو والا نشته دې. چا ته چه د هغهٔ شفاعت منظور وی هم په دهٔ باندې به عمل کوی. او عمل بغیر د معنی نه معلومیدې نهٔ شی. پس عوامو له ضروری دی چه ترجمه اوکړی.

آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ مَنْ قَرَأَهُمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ

ځوک د شپې لولي هغهٔ لره کافي يعنې پوره دي[1].

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَلَقِيتُ أَبَا مَسْعُودٍ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَسَأَلْتُهُ فَحَدَّثَنِي بِهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو مسعود انصاريؓ ويلي دي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي چه ځوک د سورة بقرے آخري دوه ايتونه اولولي. هغهٔ لره ټوله شپه پوره والے کوي. عبد الرحمٰن وائي چه بيا زهٔ د ابومسعودؓ سره ميلاؤ شوم او هغهٔ د کعبې طواف کولو. بيا ما د هغهٔ نه تپوس اوکړو. او هغوی د نبی کريمﷺ د طرفنه دغه بيان اوکړو[2].

بَاب فَضْلِ سُورَةِ الْكَهْفِ وَآيَةِ الْكُرْسِيِّ

باب : د سورة کهف او د آيةُ الکرسئ فضيلت

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ

ابولدرداءؓ ويلي دي چه نبی کريمﷺ فرمايلي دي چه ځوک ياد کړي د سورة کهف اول لس ايتونه هغه به د دجّال د فتنے نه بچ وی[3].

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ مَعَكَ أَعْظَمُ قَالَ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ مَعَكَ أَعْظَمُ قَالَ قُلْتُ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ قَالَ فَضَرَبَ فِي صَدْرِي وَقَالَ وَاللَّهِ

ابی بن کعبؓ ويلي دي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي اے ابوالمنذر د الله په کتاب کښ ستا سره کوم يو ايت د ټولو نه لوئے دے؟ هغهٔ عرض اوکړو الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهه دي. هغهٔ اوفرمايل اے ابوالمنذر ! کوم يو ايت د الله په کتاب کښ ستا سره د ټولو نه لوئے دے. هغوی عرض اوکړو. اللّٰهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ. يعنی اية الکرسي. نو رسول اللهﷺ يو لاس اووهو څما په سينه (يعنی د

---

[1] دهٔ لره کافي دي يعنې د تهجدو په بدله کښ. يا د شيطان د بچ کيدو دپاره کافي دي يا د نورو افتونو نه د بچ کيدو دپاره.

[2] مخکښ عبد الرحمٰن ته دا حديث د ابومسعود رضی الله عنه نه په واسطه د چا راوی رسيدلے وو. په دی واسطه هغوی غوښتل چه بے د واسطے هم د هغهٔ نه واورم. ددے دپاره چه خپل سند م عالي شی. د محدثينو په نز ددغه سند عالي لوئے خيال کيږی. او دا يو لوئے نعمت دے چه دے اُمت کښ چه يو اُمت ته نصيب شوے نهٔ دے.

[3] په دے ورځو کښ ددے ايتونو يادول او سوچ کول ضروری دی . ځکه چه نيچری خلق مُلحد مزاج چه د لعين دجال د راتلو سامان دے د هغوی په دے زمانه کښ لويه بلوه ده. او د هغوی فاسد خيالات اکثر په خلقو کښ خوريږی. او د انبياء عليهم السلام د ښکاره معجزونه او د ايات قرانيه او بينات رحمانيه نه انکار کوی.

لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ

شاباسی، او اوئے فرمایل اے ابوالمنذر! تا ته د علم مبارک وی[1].

بَاب فَضْلِ قِرَاءَةِ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ

باب : د قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ فضیلت

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ فِي لَيْلَةٍ ثُلُثَ الْقُرْآنِ قَالُوا وَكَيْفَ يَقْرَأُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ قَالَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ

د ابوالدرداءؓ نه روایت دے چه نبی کریمﷺ اوفرمایل چه ولے ستاسو کښې څوک پتاسو کښې په دے سره چه هره شپه دریمه حصّه قرآن لولی؟ صحابؤ عرض اوکړو چه دریمه حصه قرآن به څنګه لولی؟ حضرت اوفرمایل قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ. د دریمے حصے د قرآن برابر دے.

عَنْ قَتَادَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا مِنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ جَزَّأَ الْقُرْآنَ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ فَجَعَلَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ جُزْءًا مِنْ أَجْزَاءِ الْقُرْآنِ

د قتاده نه ددغه اسناد سره دا روایت ذکر کړے شوے دے. او په دے کښې د نبی کریم قول مروی دے. چه الله تعالی قرآن پاک درے حصّے کړو (یعنی قصص او احکام او صفات الله) او قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ لره ئے د قرآن پاک یوه حصّه کړله (یعنی دباری تعالی د ښکلو صفتونو نه ډک دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْشُدُوا فَإِنِّي سَأَقْرَأُ عَلَيْكُمْ ثُلُثَ الْقُرْآنِ فَحَشَدَ مَنْ حَشَدَ ثُمَّ خَرَجَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ثُمَّ دَخَلَ فَقَالَ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ إِنِّي أُرَى هَذَا خَبَرٌ جَاءَهُ مِنَ السَّمَاءِ فَذَاكَ الَّذِي أَدْخَلَهُ ثُمَّ خَرَجَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي قُلْتُ لَكُمْ سَأَقْرَأُ عَلَيْكُمْ ثُلُثَ الْقُرْآنِ أَلَا إِنَّهَا تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. تاسو خلق راجمع شئ چه زهٔ ستاسو په مخکښې دریمه حصّه قرآن اولولم. غرض دا چه را جمع شول څوک چه جمع کیدلو. بیا نبی کریمﷺ را اووتو. او هغهٔ قُلْ هُوَ اللهُ او لوستو او دننه لاړو. بیا مونږ یو بل ته اووے. چه کیدے شی د آسمان نه څهٔ خبر راغلے وے. چه د هغے دپاره حضرتؐ دننه لاړو. بیا نبی کریم را اووتو. او هغهٔ اوفرمایل چه ما تاسو ته ویلی وو چه ستاسو په مخکښې دریمه حصه قرآن لولم نو دا سورة د دریمے حصے کلام الله برابر دے.

---

[1] امام نووی رحمه الله ویلی دی دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د قرآن پاک آیتونه بعضے د بعضو نه غوره دی. او علماؤ ویلی دی چه آیة الکرسی دد ے وجے نه غوره ده د ټول قرآن نه. چه په دے کښې د الله تعالی جل شانه ټول صفتونه او د نومونو جرړے ذکر کړے شوے دی. لکه معبود کیدل او یو کیدل، او ژوندے کیدل او د هغهٔ د کامل علم او سلطنت او بادشاهت او اراده او دا ټول د صفتونو زیلے دی. پس دا آیت د هغے ټولو جامع دے. څکه د ټولو نه غوره او اولی دے. او دد ے حدیث نه معلومه شوه. چه د شاباسی لاس په سینه باندے وهل سنت دی. او په ملا باندے وهل د سنتو خلاف دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَقْرَأُ عَلَيْكُمْ ثُلُثَ الْقُرْآنِ فَقَرَأَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ اللهُ الصَّمَدُ حَتَّى خَتَمَهَا

ابوهریرهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ زمونږ خواله راغے. او اوئے فرمايل. چه ستاسو په مخکښې زۀ دريمه حصه قرآن لولم بيا هغۀ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَد اولوستو. تر دے پورے چه دا سورة ئے ختم کړو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا عَلَى سَرِيَّةٍ وَكَانَ يَقْرَأُ لِأَصْحَابِهِ فِي صَلَاتِهِمْ فَيَخْتِمُ بِقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ فَلَمَّا رَجَعُوا ذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَلُوهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذَلِكَ فَسَأَلُوهُ فَقَالَ لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمَنِ فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبِرُوهُ أَنَّ اللهَ يُحِبُّهُ

د حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ يو سړی لره سردار کړو او اوئے لېږلو او هغۀ به د خپل فوج په مانځۀ کښې قرآن لوستلو. او قرأت لره به ئے په قُلْ هُوَ اللهُ أَحَد باندے ختمولو. بيا چه کله فوج واپس راغے. خلقو د هغے ذکر رسول اللهﷺ ته اوکړو. نو هغۀؐ اوفرمايل چه د هغۀ نه تپوس اوکړئ چه هغه ولے داسے کوی؟ چه تپوس ئے تر اوکړو نو هغۀ اووے. چه دا د رحمٰن صفت دے او زۀ دے لره دوست لرم چه دا اولولم. حضرتؐ اوفرمايل چه هغۀ ته اووايئ چه اللهؒ تا سره محبت کوی[1].

بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْمُعَوِّذَتَيْنِ

باب : د معوذتينو فضيلت

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَمْ تَرَ آيَاتٍ أُنْزِلَتِ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ

د عامر خوئ عقبهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي. تاسو نۀ وينئ چه نن شپه داسے آيتونه نازل شوی دی. چه د هغے په مثل چرته نۀ دی ليدلی شوی او هغه قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ دی[2].

---

[1] په دے مبارک سورة کښې د الله پاک يو کېدل، بے پرواه معبود کېدل، د اولاد نه پاک کېدل، د چا نه نۀ پيدا کېدل، يعنی قديم کېدل د هغۀ د ذات، همسر خوک نۀ کېدل، يعنی بے مثل کېدل مذکور دی او سُبحٰن الله دومره ښکلی صفات په څومره خوبئ او اختصار سره په دے مبارک سورة کښې مذکور دی. بيا به څنګه د مؤمن د دے سره محبت نۀ وی. او د الله دوست ساتل بنده لره دا دی چه د هغۀ ګناهونه اوبخښی. په دواړه جهانه کښې عافيت ورته عنايت کړی او د خپل اطاعت توفيق ورکړی. او د بنده خدائے لره دوست ساتل دا دی چه د هغۀ عبادت او اطاعت په صدق د زړۀ او اخلاص سره په ځائے راوړی او هغۀ لره په زړۀ سره يادوی. او د هغۀ محبت د ټولے دنيا نه مخکښې ګڼړی.

[2] د دے حديث نه معلومه شوه. چه دا دواړه سورتونه په قرآن کښې داخل دی. او رد راغلے د هغه مضمون کوم چه د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په طرف منسوب دے. چه دا په قرآن کښې داخل نۀ دی. او د اُمت په دے باندے اجماع منعقد شوے ده. چه هغه په قرآن کښې دی. او هغه روايت د ابن مسعود رضی الله عنه شاذ دے. او دا هم معلومه شوه چه لفظ قل هم په قرآن کښې داخل دے. او په دے باندے هم د امت اجماع ده. (نووی رحمه الله)

بَاب فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ وَيُعَلِّمُهُ

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَسَلَّطَهُ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ حِكْمَةً فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا

عَنْ عَامِرِ بْنِ وَاثِلَةَ أَنَّ نَافِعَ بْنَ عَبْدِ الْحَارِثِ لَقِيَ عُمَرَ بِعُسْفَانَ وَكَانَ عُمَرُ يَسْتَعْمِلُهُ عَلَى مَكَّةَ فَقَالَ مَنِ اسْتَعْمَلْتَ عَلَى أَهْلِ الْوَادِي فَقَالَ ابْنَ أَبْزَى قَالَ وَمَنِ ابْنُ أَبْزَى قَالَ مَوْلًى مِنْ مَوَالِينَا قَالَ فَاسْتَخْلَفْتَ عَلَيْهِمْ مَوْلًى قَالَ إِنَّهُ قَارِئٌ لِكِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَإِنَّهُ عَالِمٌ بِالْفَرَائِضِ

باب : په قرآن د عمل کونکی او ددے د ښودونکی فضیلت

سالم د خپل پلار نه هغه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه هغهٔ اوفرمایل حسد په چا بل باندے نۀ دے. مگر په دوو سړو باندے. یو هغه چه چا لره الله تعالی قران عنایت کړے وی. او هغه هغے لره د شپے او د ورځے لولی او په هغے باندے عمل کوی. دویم هغه چه الله تعالی هغهٔ لره مال ورکړے وی چه هغه د شپے هم خرچ کوی او د ورځے هم[1].

عبد الله بن مسعود ؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل چه حسد روا نۀ دے. مگر په دوو سړو باندے. یو هغه سړے چه هغه له الله تعالی مال ورکړی او په لاره د حق کښں د خرچ کولو توفیق هم ورکړی. دویمه دا چه هغه له حکمت ورکړی . چه د هغے مطابق حکم کوی. او ښودنه کوی (د حکمت مراد د حدیثو علم دے)

د عامر بن واثله ؓ نه روایت دے چه نافع بن عبد الحارث ؓ ملاقات اوکړو د حضرت عمر ؓ سره په عسفان کښں او حضرت عمر ؓ هغهٔ لره په مکه باندی تحصیلدار جوړ کړو. بیا حضرت عمر ؓ تپوس اوکړو. تا په خنگل والا باندے چا لره تحصیلدار جوړ کړو؟ هغوی اووے. ابن ابزی لره. حضرت عمر ؓ اووے. ابن ابزی څوک دے؟ هغوی اووے چه زمونږ د ازاد کړو غلامانو نه یو غلام دے. حضرت عمر ؓ اووے. تا غلام لره په هغوی باندے تحصیلدار کړو. هغوی اووے. هغه د الله د کتاب

[1] پسخیدل په دو قسمه دی. یو دا چه بنده غواری چه د بل دا نعمت د زائل شی او ماته دِ میلاؤ شی. او دا په اجماع امت حرام دی. دویم قسم دا چه بنده د صاحبِ نعمت د نعمت زوال نۀ غواری. بلکه دومره آرزو کوی چه دا نعمت دِ خدائے پاک ماته هم نصیب کړی. او دے ته عربی کښں غِبطه وائی. او دا په شریعت کښں محمود دے. او په انبیاؤ صلحاؤ کښں هم وی. دلته د پسخیدو نه دا مراد دے نۀ اولنے معنی

قَالَ عُمَرُ أَمَا إِنَّ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ

قاري دے. او میراث په تقسیمولو ښهٔ پوهیږي. حضرت عمر اووے. چه واوره ستاسو نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چه الله تعالی دد ے کتاب په سبب سره څهٔ خلقو لره اوچتوي او څهٔ خلقو لره به غورځوي[1].

بَابُ بَيَانِ أَنَّ الْقُرْآنَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ وَبَيَانِ مَعْنَاهُ

باب: د قرآن په اوو حروفو کښې د نازلیدو او د هغے د مطلب بیان

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَؤُهَا وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرَأَنِيهَا فَكِدْتُ أَنْ أَعْجَلَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَمْهَلْتُهُ حَتَّى انْصَرَفَ ثُمَّ لَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ فَجِئْتُ بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي سَمِعْتُ هٰذَا يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَأْتَنِيهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسِلْهُ اقْرَأْ فَقَرَأَ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰكَذَا أُنْزِلَتْ ثُمَّ قَالَ لِيَ اقْرَأْ فَقَرَأْتُ فَقَالَ هٰكَذَا أُنْزِلَتْ إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ

عبد الرّحمٰن خوئي د عبد القاري وائي چه ما د حضرت عمر نه اوریدلي دي. چه ویلي ئے وو ما یوه ورځ د هشام بن حکیم نه د سورة فرقان لوستل واوریدل چه نورو خلقو نه ئے خلاف لوستلو او دا سورت رسول الله ﷺ ما ته لوستلے وو. نو زړهٔ ته زړه ورته ووم چه هغهٔ له زر راوانیسم. مگر ما هغهٔ له مهلت ورکړو ترد ے پورې چه اوئے لوستلو. بیا ما د هغهٔ څادر د هغهٔ په مرئ کښې واچوو او راښکودو مے. او د رسول الله ﷺ پورے مے راوستو. او عرض مے اوکړو چه اے د الله رسوله ﷺ! ما ددهٔ نه سورة فرقان واوریدو خلاف د هغے لکه چه تا ما ته لوستلے د ے. رسول الله ﷺ اوفرمایل. ښه ده دهٔ لره پریږدوه. او هغهٔ ته ئے اووے. وایه بیا هغوی هغه شان اولوستو. لکه څنگه چه ما مخکښې اوریدلے وو. نو رسول الله ﷺ اوفرمایل دغسے نازل شوے د ے. بیائے ما ته اووے اولوله ما هم اولوستو (یعني څنگه چه ما ته رسول الله ﷺ لوستلے وو) بیا هم هغه اوفرمایل چه دغسے نازل شوے د ے او اوئے فرمایل خبره داده چه قران په اووه ؤ حروفو کښې نازل د ے د هغے نه چه کوم تاسو ته آسان

---

[1] یعني څوک چه د هغے تابعدار وي په دنیا کښې په حکومت او په آخرت کښې جنت اوموومي. او څوک چه منکر وي. په دنیا کښې ذلت او په آخرت کښې به عذاب اوچت کړي.

مِنْهُ

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ يَقُولُ سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمٍ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وي هغسے لولئ [1].

حضرت عمر ؓ ویلی دی. چه اوریدلی دی ما د هشام بن حکیم نه چه هغه سورة فرقان لوستلو. بیائے حدیث بیا کړو د اول په شان. او په دے کښې ئے دا زیات کړل چه نږدے وه چه زهٔ هغهٔ لره قید کړم په

---

[1] : امام نووی رحمه الله ویلی دی په اووه حروفو کښې د قرآن نازلیدل محض آسانی او د امت د سهولت دپاره وو. لکه چه په نورو روایتونو کښې په تصریح سره راغلی دی. چه هغه په بارگاه الٰهی کښې عرض اوکړو چه څما په امت باندے آسانی وی. په هغے باندے د اووه حرفونو پوری اجازت میلاؤ شو. او د علماؤ اختلاف دے. چه د اووه عددو نه څهٔ مراد دے؟ څنو ویلی دی. دا اووه عدد صرف د سهولت دپاره دی. د حصر دپاره نهٔ دی. مګر د اکثرو دا قول دے چه د حصر دپاره دی. یعنی د اووه نه اته کیدے نهٔ شی. اوس ددے په مطلب کښې هم څو قولونه دی. یو دا چه مراد ددے نه اووه مضمونونه دی. چه هغه خلاصه مطالب قرآن دی. لکه وعد ، وعید ، محکم، متشابه، حلال ، حرام، قصص او امثال. بعضے وائی مراد ددے نه کیفیت د قرات او د هغے د کلماتو ویستلو دے. لکه ادغام ، اظهار ، تفخیم، ترقیق، اماله، مد ، قصر دی. ځکه چه د عربو قبائلو په خپلو کښې په هغه قاعدو کښې اختلاف لرلو. پس الله تعالی د هغه امت له آسانی ورکړه. چه مثلاً په کوم لفظ کښې چا ته ادغام یعنی تشدید لوستل آسان وی هغه دِ ادغام کوی. چا ته چه مشکل وی هغه دِ نهٔ کوی. دغه شان د اظهار وغیره حال دے. او بعضو ویلی دی. ددے نه اووه قسمه الفاظ او حروف مراد دی. او ددغے طرفته اشاره کړے ده. ابن شهاب رحمه الله چرته چه روایت کړے دے د هغهٔ نه مسلم رحمه الله په خپل کتاب کښې. بیا دغه خلقو په دے هم اختلاف کړے دے. څنو ویلی دی. مراد ددے نه اووه قراتونه او وجوه دی. او څنو ویلی دی چه د عربو اووه لغات مراد دی. لکه يَمَنْ او مَعَد او دا افصح لغات دی. او څوک وائی د قبیله مضر اووه ژبے. او دا ټول لغات په قرآن کښې ځائے په ځائے وارد شوی دی. نهٔ دا چه په یو ځائے دی یا په یوه کلمه کښې دی. او بعضو ویلی دی چه په څنو کلماتو کښې ټول لغت جمع دی. لکه وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ، وَنَرْتَعْ، وَ يَلْعَبُ، وَبَاعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا . وغیره کښې. او قاضی ابوبکر باقلانی ؒ ویلی دی. چه صحیح دا خبره ده. چه اووه واړه قسمه لغت مروی شوی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه. او امت هغے لره جمع کړی دی او حضرت عثمان رضی الله عنه او یو جماعت هغے لره په مصحف کښې یو ځائے کړی دی. او د هغے د صحت خبرئے ورکړے دے. او کوم چه په تواتر ثابت نهٔ شو هغے لره ئے حذف کړل. اګر چه د هغهٔ الفاظو معانی کله مختلف وی. مګر په خپلو کښې ضد او منافات نهٔ لری. چه د یو معنٰی د بل مکذب شی. او طحاوی ذکر کړی دی چه په هغه حروفو کښې د قرات ضرورت په اول د اسلام کښې وو. چه د هغه وخته پورے خلقو ته په اسلام کښې ښهٔ مشق نهٔ وو. بیا چه کله ډیر خلق په اسلام کښې داخل شو. او د وحی لیکل هم ځائے په ځائے اوشو. اوس ضرورت باقی نهٔ دے پاتے. او داؤدی ویلی دی. اووه قرأتونه کوم چه نن ورځے لوستلے شی په هر حرف او هر لفظ کښې نهٔ دی. بلکه ځائے په ځائے متفرق دی. او ابوعبید الله ویلی دی چه دا اووه قراتونه د یو حرف نه وتلی دی. چه هغه په حدیث کښې ذکر کړے شوی دی. او دغے لره حضرت عثمان رضی الله عنه په خپل مصحف کښې جمع کړی دی. او نحاس وغیره هم دغه ویلی دی او نورو علماؤ ویلی دی چه په هر رمضان کښې د قرآن کوم دور چه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د جبرائیل علیه السلام په مینځ کښې کیدلو. نو د اووهٔ حروفو اجازت په یو دور کښې نهٔ دے شوے او دا هم نهٔ ده معلومه چه په دغه اووهٔ قراتونو کښې کوم چه مروج دی په آخری دور کښې ئے کوم یو لوستلے وو او د اووهٔ قراتونه مشهور دی. او په شهرت د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مروی دی. او امت هغے لره ضبط کړی دی.

وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِمِثْلِهِ وَزَادَ فَكِدْتُ أُسَاوِرُهُ فِي الصَّلَاةِ فَتَصَبَّرْتُ حَتَّى سَلَّمَ

مانځۀ كښې مگر ما صبر اوكړو. دد ے پور ے چه هغوی سلام اوګرځوو.

مسلمؒ وائی . روایت کړے دے مونږ ته دا حدیث اسحاق بن ابراهیم او عبید بن حمید دواړو ویلی دی روایت کړے دے مونږ ته عبد الرّزاق هغۀ ته زهری په شان د روایت د یونسؒ د اسناد سره.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَقْرَأَنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَلَى حَرْفٍ فَرَاجَعْتُهُ فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيدُهُ فَيَزِيدُنِي حَتَّى انْتَهَى إِلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ بَلَغَنِي أَنَّ تِلْكَ السَّبْعَةَ الْأَحْرُفَ إِنَّمَا هِيَ فِي الْأَمْرِ الَّذِي يَكُونُ وَاحِدًا لَا يَخْتَلِفُ فِي حَلَالٍ وَلَا حَرَامٍ

ابن عباس عبید الله بن عتبه ته بیان اوکړو. چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه جبرائیلؑ په یو حرف باند ے قران الوستۀ او ما به هغۀ ته د زیاتو درخواست کولو او هغۀ به زیاتول تر د ے پور ے چه د اووه حرفونو پور ے نوبت اورسیدو. ابن شهابؒ ویلی دی چه ما ته خبر رارسیدلے د ے چه د هغه اووه ؤ حروفو مقصد او مطلب دغه یو د ے. چه په څۀ اختلاف نۀ پرېوځی.

مسلمؒ ویلی دی . او دغه روایت بیان کړے دے مونږ ته عبد بن حمید هغۀ ته عبد الرّزاق هغۀ ته زهری د دغه اسناد سره.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ رَجُلٌ يُصَلِّي فَقَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ ثُمَّ دَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ قِرَاءَةً سِوَى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ فَلَمَّا قَضَيْنَا الصَّلَاةَ دَخَلْنَا جَمِيعًا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ إِنَّ هٰذَا قَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ وَدَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ سِوَى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ فَأَمَرَهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَآ فَحَسَّنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَأْنَهُمَا فَسَقَطَ فِي نَفْسِي مِنَ التَّكْذِيبِ

ابی بن کعبؓ ویلی دی چه زۀ په جماعت کښې وم او یو سړ ے راغے او مونځ کول ئے شروع کړو. او یو قرأت ئے داسې لوستو چه زۀ په هغې نۀ پوهیدم. بیا دویم راغے او هغه یو بل قراءت اولوستو د هغے نه سوا . بیا کله چه مونږ خلقو مونځ اوکړو نو تول د رسول اللهﷺ خواله راغلو او ما عرض اوکړو چه د ے سړی یو داسې قراءت اولوستو چه زۀ حیران شوم. او یو بل راغے نو هغۀ بل یو قراءت اولوستو سوا د هغې نه بیا حکم اوکړو هغه دواړو ته رسول اللهﷺ . او هغوی دواړو اولوستل او روا اووے نبی کریمﷺ هغه دواړو قراءتونو ته چه مختلف وو. او څما په زړۀ کښې یو تکذیب راغے نۀ داسې چه په جاهلیت کښې وو. بیا خیال اوکړو رسول اللهﷺ هغې بلا ته کومې چه

وَلَا إِذْ كُنْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَدْ غَشِيَنِي ضَرَبَ فِي صَدْرِي فَفِضْتُ عَرَقًا وَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَرَقًا فَقَالَ لِي يَا أُبَيُّ أُرْسِلَ إِلَيَّ أَنْ اقْرَأْ الْقُرْآنَ عَلَى حَرْفٍ فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّانِيَةَ اقْرَأْهُ عَلَى حَرْفَيْنِ فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّالِثَةَ اقْرَأْهُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَلَكَ بِكُلِّ رَدَّةٍ رَدَدْتُكَهَا مَسْأَلَةٌ تَسْأَلُنِيهَا فَقُلْتُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي وَأَخَّرْتُ الثَّالِثَةَ لِيَوْمٍ يَرْغَبُ إِلَيَّ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ حَتَّى إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام

زۀ گیر کړے وم. نو خما سینه ئے یوه ټپیره اووهله چه زۀ خولے خولے شوم. او ما ته لکه د یرے نه الله پاک په نظر راغے. بیائے ما ته اوفرمایل. اے أبی ! مخکښې ما ته حکم اوشو چه زۀ دِ قرآن په یو حرف کښې لولم. بیا ما په بارګاه الهی کښې عرض اوکړو. چه خما په امت باندے اسانی اوکړه. بیا دوباره ما ته حکم اوشو چه په دوه حرفونو کښې لوله بیا ما په دویم خل عرض اوکړو چه خما په امت بانے آسانی اوکړه . بیا په دریم خل ما ته حکم اوشو چه په اووه ؤ حرفونو باندے ئے لوله او ارشاد اوشو. چه تا څو خله د امت د آسانئ دپاره عرض اوکړو. د هر خل په عوض کښې یوه دُعا مقبوله ده. خما نه ئے تهٔ اوغواړه. ما عرض اوکړو یا اللّٰهُ خما امت اوبخښے یا الله خما امت اوبخښے (دا دوه شول) او دریمه دُعا مِ د هغه ورځے دپاره ایخے ده چه په کومه ورځ به ټول خلق خما په طرف رغبت کوی. تردے پورے چه حضرت ابراهیمؑ هم.

مسلمؒ ویلی دی چه روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر بن ابی شیبه هغۀ ته عبد الرّحمٰن بن محمد بن بشیر هغۀ ته اسمٰعیل بن ابی خالد هغۀ ته عبد الله بن عیسیٰ هغۀ ته عبد الرّحمن بن ابی لیلیٰ. هغوی وائی چه خبر راکړے دے ما ته اُبی بن کعبؓ چه هغه په جماعت کښې ناست وو او یو سړے راغے او هغۀ مونځ لره اوکړو. او یو قراءت ئے اولوستو. باقی ټول قصه ئے ذکر کړه لکه چه د ابن نمیر په روایت کښې پورته تیره شوه.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَ أَضَاةِ بَنِي غِفَارٍ قَالَ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَقْرَأَ أُمَّتُكَ الْقُرْآنَ عَلَى حَرْفٍ فَقَالَ

ابی بن کعبؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ د بنی غفار په تالاب باندے وو. او هغۀ ته جبرائیلؑ تشریف راوړو. او اونے ویل. چه الله تعالی تاته حکم کوی. چه خپل امت ته په یو حرف باندے قرآن لوله حضرتؐ اوفرمایل. زۀ د الله تعالی نه د هغے معافی او بخښنه

أَسْأَلُ اللهَ مُعَافَاتَهُ وَمَغْفِرَتَهُ وَإِنَّ أُمَّتِي لَا تُطِيقُ ذٰلِكَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ فَقَالَ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَقْرَأَ أُمَّتُكَ الْقُرْآنَ عَلٰى حَرْفَيْنِ فَقَالَ أَسْأَلُ اللهَ مُعَافَاتَهُ وَمَغْفِرَتَهُ وَإِنَّ أُمَّتِي لَا تُطِيقُ ذٰلِكَ ثُمَّ جَاءَهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَقْرَأَ أُمَّتُكَ الْقُرْآنَ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَحْرُفٍ فَقَالَ أَسْأَلُ اللهَ مُعَافَاتَهُ وَمَغْفِرَتَهُ وَإِنَّ أُمَّتِي لَا تُطِيقُ ذٰلِكَ ثُمَّ جَاءَهُ الرَّابِعَةَ فَقَالَ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَقْرَأَ أُمَّتُكَ الْقُرْآنَ عَلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَأَيُّمَا حَرْفٍ قَرَءُوا عَلَيْهِ فَقَدْ أَصَابُوا

غوارم. او خما امت د هغې طاقت نه شي لرلې. بيا دوباره د هغهٔ خواله راغې. او اوئې ويل چه بيشكه الله تعالى حكم كوى چه ته خپل امت ته په دوه حروفو قرآن اولوله حضرت ﷺ عرض اوكړو چه زهٔ د الله تعالى نه د هغې عفوه او بخښنه غوارم. او خما امت دد ے طاقت نه لرى بيا په دريم ځل راغې او اوئې ويل. چه الله تعالى تاته حكم فرمائى. چه خپل امت ته په درے حروفو كښې قرآن اولوله هغهٔ عرض اوكړو چه زهٔ د الله تعالى نه د هغې عفوه او د هغې بخښنه غوارم او خما د امت نه دا نهٔ شي كيدے. بيا هغه په څلورم ځل راغې. او دائې اوويل چه بيشكه الله تعالى فرمائى. چه خپل امت ته قرآن په اووه حرفونو باندے لوله او په دغه حروفو كښې چه په كوم حرف باندے لولې هغه به ټهيک وى.

مسلمؒ ويلى دى او بيان كړے دے مونږ ته دا روايت عبيد الله بن معاذ او هغهٔ ته د هغهٔ پلار او هغهٔ ته شعبه په دغه اسناد سره په شان دد ے روايت.

بَابُ تَرْتِيلِ الْقِرَاءَةِ وَاجْتِنَابِ الْهَذِّ وَهُوَ الْإِفْرَاطُ فِي السُّرْعَةِ وَإِبَاحَةِ سُورَتَيْنِ فَأَكْثَرَ فِي رَكْعَةٍ

باب : قرآن په دمه دمه د لوستو او په يو ركعت كښې دوه يا د دواو نه زيات د سورتونو د لوستو بيان

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ نَهِيكُ بْنُ سِنَانٍ إِلٰى عَبْدِ اللهِ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ كَيْفَ تَقْرَأُ هٰذَا الْحَرْفَ أَلِفًا تَجِدُهُ أَمْ يَاءً مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ أَوْ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ يَاسِنٍ قَالَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ وَكُلَّ الْقُرْآنِ قَدْ أَحْصَيْتَ غَيْرَ هٰذَا قَالَ إِنِّي لَأَقْرَأُ الْمُفَصَّلَ

ابى وائل ويلى دى چه يو بنده راغې چه هغه ته به ئې نهيک بن سنان ويلو د عبد الله بن مسعودؓ خواله. او اوئې ويل اے ابو عبد الرّحمٰن ته دے حرف لره الف لولې يا. يآءِ مِنْ مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ يا مِنْ مَّاءٍ غَيْرِ يَاسِنٍ. عبد الله بن مسعودؓ اووے تا ټول قرآن لره ياد كړے دے سوا دد ے حرف نه؟ هغهٔ بيا اووے. چه زهٔ د مفصل ټول سورتونه په يو ركعت كښې لولم. عبد اللهؓ اووے. ته خو داسے وينا كوے لكه

فِي رَكْعَةٍ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ هَذًّا كَهَذِّ الشِّعْرِ إِنَّ أَقْوَامًا يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ وَلَكِنْ إِذَا وَقَعَ فِي الْقَلْبِ فَرَسَخَ فِيهِ نَفَعَ إِنَّ أَفْضَلَ الصَّلَاةِ الرُّكُوعُ وَالسُّجُودُ إِنِّي لَأَعْلَمُ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرُنُ بَيْنَهُنَّ سُورَتَيْنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ ثُمَّ قَامَ عَبْدُ اللهِ فَدَخَلَ عَلْقَمَةُ فِي إِثْرِهِ ثُمَّ خَرَجَ فَقَالَ قَدْ أَخْبَرَنِي بِهَا قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ فِي رِوَايَتِهِ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي بَجِيلَةَ إِلَى عَبْدِ اللهِ وَلَمْ يَقُلْ نَهِيكُ بْنُ سِنَانٍ

چه شعرونه خلق زر زر بیانوی ډیر خلق قرآن داسے لولی. چه د هغوی د مرئ د هډوکی نه لاندے نهٔ کوزیږی. مگر د قرآن قاعده داده. چه کله زړهٔ ته کوز شی او ځائے اونیسی. هله نفع ورکوی. په مانځهٔ کښی افضل رکن رکوع او سجده ده. او زهٔ د هغه یو نه دوو سورتونو لره پیژنم. چه هغے لره به رسول الله ﷺ په یو یو رکعت کښی دوه دوه یو ځائے لوستلو. بیا عبد الله پاڅیدو او علقمه د هغهٔ نه روستو داخل شو او اوئے ویل. چه ماله دد ے خبر ابن نمیر راکړے دے په خپل روایت کښی ویلی دی چه د قبیله بن بجیله یو سړے عبدالله بن مسعود له راغے. او نهیک بن سنان نوم ئے نهٔ دے اخستے[1].

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عَبْدِ اللهِ يُقَالُ لَهُ نَهِيكُ بْنُ سِنَانٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ وَكِيعٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَجَاءَ عَلْقَمَةُ لِيَدْخُلَ عَلَيْهِ فَقُلْنَا لَهُ سَلْهُ عَنِ النَّظَائِرِ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهَا فِي

ابو وائل ویلی دی چه یو سړے چه نوم ئے نهیک بن سنان وو د عبد الله بن مسعود خواله راغے. بیائے حدیث بیان کړو د وکیع د روایت په شان (یعنی لکه چه پورته ذکر شو) مگر دومره فرق دے. چه بیا علقمه راغے او د عبد الله خواله لاړو. او مونږ هغهٔ ته اووے چه تهٔ د هغه سورتونو په باره کښی تپوس اوکړه. کوم چه به ئے په یو رکعت کښی دوه دوه لوستلو.

---

[1] نووی رحمه الله ویلی دی. عبد الله چه کوم دا اووے. چه تا ټول قرآن لره یاد کړے دے سوا دد ے حرف نه. دائے لکه د هغهٔ جواب نه دے اوکړه. خکه چه معلومه ئے کړه چه هغ ته د سوال کولو نه څهٔ بنهٔ مقصد نهٔ وو. او د شعر د لوستو نه زر زر مراد دے. نه سندره ویل او ترنّم چه هغه په دمه دمه کیږی. او د رکوع او سجدو غوره کیدل دا د ابن مسعود رضی الله عنه مذهب دے. گنی په مرفوع حدیث کښی راغلی دی. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. غوره مونځ هغه دے چه په هغے کښی قیام اوږد وی. او کوم سورتونه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځائے په یو یو رکعت کښی لوستلو هغه د ابوداؤد په روایت کښی داسے راغلی دی چه سورة رحمٰن او وَالنَّجم په یو رکعت کښی. او اِقْتَرَبَتِ او الحاقّه په یو رکعت کښی. او طُور او ذاریات په یو کښی. او واقعه او نُون په یو کښی. او سَأَلَ سَائِل او وَالنّٰازعات په یو کښی. او وَيلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ او عَبَسَ په یو کښی. او مُدَّثِر او مُزَّمِّل په یو کښی. او هَلْ أَتیٰ او لَآ أُقْسِمُ په یو کښی. او عَمَّ يَتَسَآءَلُوْن او مُرْسَلَات په یو کښی. او سورة دُخان او إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ په یو کښی. او دے ته مُفصّل خکه وائی چه جدا جدا دی. او د قرآن تفصیل داد ے چه رومبی سَبْعِ طِوَال یعنی اووهٔ سورتونه اوږدهٔ دی. بیا ذوات المِئِیْن او هغه سورتونه دی چه په هغے کښی سل سل آیتونو ته نږدے دی. بیا مَثَانی دی بیا مُفَصَّل. او د مُفصلو په شروع کښی اختلاف دے. بعضو ویلی دی د قتال نه د آخره پورے مفصل دی. بعضو ویلی دی د حُجُرات نه، او چا ویلی دی د قٓ (قاف) نه

رَكْعَةٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَسَأَلَهُ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ عِشْرُونَ سُورَةً مِنَ الْمُفَصَّلِ فِي تَأْلِيفِ عَبْدِ اللهِ

نو هغه لاړو او د هغهٔ نه ئې تپوس اوکړو. او بیا زمونږ خواله راغے اوئې ویل. هغه شل سورتونه دی. چه په لس رکعته کښې لوستلے شی د مُفصل نه د عبد اللهؓ جمع کړی شوی مصحف دی.

مُسلمؒ ویلی دی . او بیان کړے دے مونږ ته دا روایت اسحاق بن ابراهیم هغهٔ ته عیسیٰ بن یونس هغهٔ ته اعمش د دغے اسناد سره په شان د روایت د هغه دوارو راویانو (یعنی چه د هغوی روایتونه پورته تیر شو) په دے کښې دادی چه عبد الله اووے. زهٔ هغه نظائرو لره پیژنم چه هغې لره رسول اللهﷺ دوه دوه په یو ځائے په یو رکعت کښې لوستلو. او هغه شل سورتونه دی. چه په لسو رکعتونو کښې به ئې لوستلو.

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ غَدَوْنَا عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ يَوْمًا بَعْدَ مَا صَلَّيْنَا الْغَدَاةَ فَسَلَّمْنَا بِالْبَابِ فَأَذِنَ لَنَا قَالَ فَمَكَثْنَا بِالْبَابِ هُنَيَّةً قَالَ فَخَرَجَتِ الْجَارِيَةُ فَقَالَتْ أَلَا تَدْخُلُونَ فَدَخَلْنَا فَإِذَا هُوَ جَالِسٌ يُسَبِّحُ فَقَالَ مَا مَنَعَكُمْ أَنْ تَدْخُلُوا وَقَدْ أُذِنَ لَكُمْ فَقُلْنَا لَا إِلَّا أَنَّا ظَنَنَّا أَنَّ بَعْضَ أَهْلِ الْبَيْتِ نَائِمٌ قَالَ ظَنَنْتُمْ بِآلِ ابْنِ أُمِّ عَبْدٍ غَفْلَةً قَالَ ثُمَّ أَقْبَلَ يُسَبِّحُ حَتَّى ظَنَّ أَنَّ الشَّمْسَ قَدْ طَلَعَتْ فَقَالَ يَا جَارِيَةُ انْظُرِي هَلْ طَلَعَتْ قَالَ فَنَظَرَتْ فَإِذَا هِيَ لَمْ تَطْلُعْ فَأَقْبَلَ يُسَبِّحُ حَتَّى إِذَا ظَنَّ أَنَّ الشَّمْسَ قَدْ طَلَعَتْ قَالَ يَا جَارِيَةُ انْظُرِي هَلْ

ابو وائل ویلی دی چه یوه ورځ د سحر د مانځهٔ نه پس مونږ د عبد الله بن مسعودؓ خواله لاړو. او د دروازه نه مونږ سلام اوکړو. هغوی اجازت راکړو مگر مونږ په دروازه کښې حصار شو. بیا یوه وینځه را اووته هغې اووے تاسو راځئ نه غرض دا چه مونږ دننه لاړو. او هغه مو اولیدو. چه ناست دے تسبیح لولی. هغوی اووے. کله چه تاسو ته اجازت درکړے شو نو تاسو ولے نهٔ راتلئ؟ مونږه اووے څهٔ نور څهٔ سبب نهٔ وو. صرف دا خیال مو شو که د کور والو نه څوک اوده وی عبد الله صاحبؓ اووے. چه تاسو د اُمّ عبد (دا د هغهٔ د مور نوم دے) د ځوئ د کور والو سره د غفلت گمان کوو (سبحٰن الله! دا گمان کول هغوی ته بد معلوم شول او نن د زرگونو خلقو حال دا دے چه د غرمے پورے د سُوئې په خوب اوده وی) غرض دا چه هغه بیا تسبیح کول شروع کړو تردے پورے چه گمان ئې راغے چه نمر ختلے دے. بیا هغوی وینځے ته اوفرمایل چه ورشه تهٔ اوگوره چه نمر راختلے دے. هغې چه اوکتل نو اوئې ویل لا نهٔ دے راختلے. بیا هغهٔ په تسبیح شروع اوکړه (د دے نه معلومه شوه چه خبر د یو سړی مقبول دے.

طَلَعَتْ فَنَظَرَتْ فَإِذَا هِيَ قَدْ طَلَعَتْ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَقَالَنَا يَوْمَنَا هٰذَا فَقَالَ مَهْدِيٌّ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَلَمْ يُهْلِكْنَا بِذُنُوبِنَا قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ قَرَأْتُ الْمُفَصَّلَ الْبَارِحَةَ كُلَّهُ قَالَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ هَذًّا كَهَذِّ الشِّعْرِ إِنَّا لَقَدْ سَمِعْنَا الْقَرَائِنَ وَإِنِّي لَأَحْفَظُ الْقَرَائِنَ الَّتِي كَانَ يَقْرَؤُهُنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ مِنَ الْمُفَصَّلِ وَسُورَتَيْنِ مِنْ آلِ حٰمٓ

او خبر د ښځې هم مقبول دے. او په گمان باندے عمل کول روا دی اگر که د حصول یقین امکان وی ځکه عبد اللهؓ د هغې په قول باندے عمل اوکړو. اگر چه ممکنه ده چه په خپله پاسی او نمر لره اوگوری، تر دے پورې چه بیائے گمان شو چه نمر به ختلے وی بیائے اووے. اے جنۍ! اوگوره نمر ختلے دے. بیا چه هغې اوکتل نو ختلے وو. بیا عبد اللهؓ اووے. ټول صفتونه الله لره دی چه هغهٔ مونږ په نن ورځ معاف کړو. او مهدی (کوم چه راوی دے) هغه وائی چه زهٔ خیال کوم چه کیدے شی دائے اووے. او هلاک نهٔ کړو هغې الله تعالی په سبب د گناهونو او زمونږ خلقو نه یو اووے. چه ما نن شپه ټول مفصل سورتونه اولوستل په دے باندے عبد اللهؓ اووے. تا داسے اولوستل لکه چه څوک شعرونو لره لوللی. مونږ بیشکه قرآن اوریدلے دی. او مونږ ته یاد دی هغه یو ځائے شوی سورتونه چه هغے لره به رسول اللهﷺ لوستلو او هغه اتلس سورتونه دی د مفصل او دوه سورتونه دی چه د هغې په سر باندے د حٰمٓ لفظ دے.

عَنْ شَقِيقٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي بَجِيلَةَ يُقَالُ لَهُ نَهِيكُ بْنُ سِنَانٍ إِلَى عَبْدِ اللهِ فَقَالَ إِنِّي أَقْرَأُ الْمُفَصَّلَ فِي رَكْعَةٍ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ هَذًّا كَهَذِّ الشِّعْرِ لَقَدْ عَلِمْتُ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهِنَّ سُورَتَيْنِ فِي رَكْعَةٍ

شقیق وئیلی دی چه یو سړے د بنی بجیله چه هغهٔ ته نهیک بن سنان وائی د عبد اللهؓ خواله راغے او هغهٔ اووے. چه زهٔ ټول مفصل سورتونه په یو رکعت کښې لولم. بیا عبد اللهؓ اووے. ته داسے لولے لکه چه څوک شعرونه لولی. زهٔ پیژنم هغه سورتونو لره چه رسول اللهﷺ به د هغے نه دوه دوه په یو رکعت کښې لوستول.

بَابُ مَا يَتَعَلَّقُ بِالْقِرَاءَاتِ

باب: د قرأت (د قرآن د لوستلو) بیان

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ رَأَيْتُ رَجُلًا سَأَلَ الْأَسْوَدَ بْنَ يَزِيدَ وَهُوَ يُعَلِّمُ الْقُرْآنَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ كَيْفَ تَقْرَأُ هٰذِهِ الْآيَةَ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ أَدَالًا أَمْ

ابی اسحٰق وئیلی دی چه ما اولیدو یو سړی لره چه هغه د اسود بن یزید نه تپوس اوکړو. او هغه په جماعت کښې قرآن لوستلو. چه ته په هَلْ مُدَّكِرٍ کښې دال لولے یا ذال. هغوی اووے. ما د عبد الله بن

ذَالاً قَالَ بَلْ دَالاً سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مُدَّكِرٍ دَالاً

مسعودؓ نه دال اوریدلے دے. او هغهٔ به هَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ویلو. چه ما د رسول اللهﷺ نه دال اوریدلے دے (یعنی چه په هغے کښې نقطه نشته).

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ هٰذَا الْحَرْفَ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

عبد اللهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ به فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ لوستول (یعنی د دال سره).

عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَدِمْنَا الشَّامَ فَأَتَانَا أَبُو الدَّرْدَاءِ فَقَالَ أَفِيكُمْ أَحَدٌ يَقْرَأُ عَلَى قِرَاءَةِ عَبْدِ اللهِ فَقُلْتُ نَعَمْ أَنَا قَالَ فَكَيْفَ سَمِعْتَ عَبْدَ اللهِ يَقْرَأُ هٰذِهِ الْآيَةَ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى قَالَ سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى قَالَ وَأَنَا وَاللهِ هٰكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا وَلٰكِنْ هٰؤُلَاءِ يُرِيدُونَ أَنْ أَقْرَأَ وَمَا خَلَقَ فَلَا أُتَابِعُهُمْ

علقمهؓ ویلی دی مونږ شام ته لاړو. نو ابوالدّرداءؓ زمونږ خواله راغے. او اوئے ویلی پتاسو کښې څوک د عبد اللهؓ قراءت لوستلو والاشته؟ ما اووے آو زهٔ یم. هغوی اووے. پس څنګه اوریدلے دے تا دے ایت لره د عبد اللهؓ نه په لوستلو سره؟ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى ما اووے. عبد الله به لوستلو وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى. هغوی اووے. په الله قسم دے. چه ما هم د رسول اللهﷺ نه دغه شان اوریدلے دی. او کهٔ دلته خلق غواړی چه زهٔ ئے اولولم وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى. نو زهٔ د هغوی نهٔ منم[1].

عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ لَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَقَالَ لِي مِمَّنْ

علقمهؓ ویلی دی چه زهٔ د ابوالدّرداءؓ سره میلاؤ شوم هغوی اووے.

[1] امام نووی رحمه الله لیکلی دی چه ما ته زری رحمة الله علیه ویلی دی. په داسے روایتونو کښې دا ګنړل پکار دی. چه دا قراءتونه اول وو. بیا منسوخ شو او کومو خلقو ته چه د هغے د نسخ خبر نهٔ دے رسیدلے. هغه معذور دی چه هغه ئے د رومبی په شان لولی. او د ظهورِ مصحف عثمانی پورے داسے اتفاق راغلے دے. بیا چه کله مصحفِ عثمانیؓ چه په اتفاق د صحابو رضی الله عنهم او په حذف د قراءت منسوخه شائع شو بیا چا د هغے اختلاف نهٔ دے کړے. او د ابن مسعود رضی الله عنه نه بعضے روایات دغه شان ثابت شوی دی. مګر هغه د اهل نقل په نزد صحت ته نهٔ دی رسیدلی. او کوم چه زمونږ د قول مخالف ثابت شی. هغه محمول دی په دے باندے چه د عبد الله رضی الله عنه عادت وو. چه هغهٔ به خپل مصحف کښې ځنے احکام چه دا قرآن نهٔ دے. او د دے خبرے اعتقاد به ئے نهٔ لرلو چه د قرآن سره نور څیزونه لیکل حرام دی. لکه صحیفه د هغهٔ د یاداشت رنړا وه. چه کله به ئے غوښته لیکله به ئے. او حضرت عثمان رضی الله عنه او ټولو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به د قرآن پاک سره د بل څیز لیکل حرام ګنړلو. ځکه چه داسے نهٔ وی چه د څهٔ مودے نه پس خلق ټولو لره قرآن اوګنړی. غرض دا چه په دے مسئله فقهیه کښې د عبد الله رضی الله عنه او د ټولو صحابو اختلاف وو. چه څهٔ تفسیر وغیره په اثنائے قرآن جائز دے یا نهٔ دے. او دا چه کوم مروی دے. چه د عبد اللهؓ په مصحف کښې معوذتین نهٔ وو. وجه د دے دا کیدے شی چه په سبب د کمال شهرت ئے هغے لره پریخودے وی. او د ټول قرآن د کتاب التزام ئے نهٔ وی کړے د خپلے حافظے د اعتماد په وجه سره د هغے د لیکلو حاجت ئے نهٔ وی محسوس کړے.

أَنتَ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ قَالَ مِنْ أَيِّهِمْ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ قَالَ هَلْ تَقْرَأُ عَلَى قِرَاءَةِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاقْرَأْ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى قَالَ فَقَرَأْتُ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى قَالَ فَضَحِكَ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا

چه ته د کوم ځائے نے ما اووے. د عراق هغوی اووے. د کوم ښهر نے ما اووے د کوفے هغوی اووے . ته د عبد الله بن مسعود قراءت لوستلے شے؟ ما اووے. چه آو. هغهٔ اووے وَاللَّيْلِ ته اولوله ما وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى اولوستلو. نو هغه په خنده شو او اوئے ویل. چه ما هم د رسول الله ﷺ نه په دغه شان لوستل اوریدلی دی.

مسلم ویلی دی. او روایت کړے دے مونږ ته محمد بن مثنی هغهٔ ته عبد الاعلی هغهٔ ته داؤد هغهٔ ته عامر هغهٔ ته علقمه چه زهٔ شام ته راغلم او د ابوالدرداء سره میلاو شوم. او ذکر ئے کړو حدیث په شان د حدیث ابن علیه

بَابُ الْأَوْقَاتِ الَّتِي نُهِيَ عَنِ الصَّلَاةِ فِيهَا

باب: په کومو وختونو کښ چه مونځ کول منع دی د هغے بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَعَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ

ابوهریره ویلی دی چه رسول الله ﷺ د مازیګر نه پس د مانځهٔ نه منع فرمایلی ده. د کومے پورے چه نمر پریوتے نهٔ وی. او دغه شان د سحر د مانځهٔ نه پس د کومے پوری چه نمر راختلے نهٔ وی[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَكَانَ أَحَبَّهُمْ إِلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ

عبد الله بن عباس ویلی دی چه اوریدلی دی ما د ډیرو صحابه کرامو نه د رسول الله ﷺ چه په هغے کښ عمر بن خطاب هم دے او هغه د ټولو نه زیات خما محبوب دے. چه منع کړے ده رسول الله ﷺ روستو د سحر د مانځهٔ نه د مونځ کولو د کومے پوری چه نمر راختلے نهٔ وی. او روستو د مانځهٔ د مازیګر نهٔ د کومے پوری چه نمر پریوتے نهٔ وی.

مسلم ویلی دی چه روایت کړے دے ما ته زهیر بن حرب هغهٔ ته یحییٰ هغهٔ ته شعبه او مسلم ویلی دی چه روایت کړے دے ما ته ابوغسان

---

[1]: دا وجه ده چه احناف کَثَّرَهُم الله د سحر د جمع نه پس سنت کولو ته مکروه وائی. عارف

مسمعي هغهٔ ته عبد الاعلی هغهٔ ته سعید . او مسلم ویلی دی چه روایت کړے دے مونږ ته اسحاق هغهٔ ته معاذ هغهٔ ته د هغهٔ پلار. دے تولو روایت کړے دے د قتادهؓ نه ددغے اسناد سره مګر دومره فرق دے. چه سعود او هشام دا روایت کړے دے. بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَشْرَقَ الشَّمْسَ یعنی د سحر نه پس دد ے پورے چه نمر رڼا اوکړی.

عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَتَحَرَّى أَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيَ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَلَا عِنْدَ غُرُوْبِهَا

نافع د ابن عمرؓ نه روایت کړے دے . چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی څوک دِ داسے نهٔ کوی چه نور وختونه پریږدی او د نمر د راختو په وخت مونځ کوی. او نهٔ د ډوبیدو په وخت.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحَرَّوْا بِصَلَاتِكُمْ طُلُوْعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوْبَهَا فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بِقَرْنَيْ شَيْطَانٍ

ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه تاسو خپل مونځونه د نمر د راختو یا پریوتو پورے مهٔ روسته کوئ ځکه چه نمر د شیطان د ښکرو په مینځ کښ راخیژی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ فَأَخِّرُوا الصَّلَاةَ حَتّٰى تَبْرُزَ وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَأَخِّرُوا الصَّلَاةَ حَتّٰى تَغِيْبَ

عبد الله ابن عمرؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. کله چه ښکاره شی غاړه د نمر نو په مانځهٔ کښ تاخیر کوئ تر دے پوری چه نمر ښهٔ صفا شی. او کله چه پټه شی غاړه د نمر نو مونځ حصار وئ تر دے پورے چه غائب شی.

عَنْ أَبِيْ بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَصْرَ بِالْمُخَمَّصِ فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ عُرِضَتْ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَضَيَّعُوْهَا فَمَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَ لَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَهَا حَتّٰى يَطْلُعَ الشَّاهِدُ وَالشَّاهِدُ النَّجْمُ

ابو بصره غفاریؓ ویلی دی. چه رسول اللهﷺ سره د مازیګر مونځ اوکړو په مخمص کښ (چه د یو ځائے نوم دے) او اوئے فرمایل چه دا مونځ ستاسو نه د وړاندے خلقو په مخکښ پیش کړلے شو او هغوی دے لره ضائع کړو. بیا چه څوک دد ے حفاظت کوی هغهٔ ته به دوه چنده ثواب میلاویږی. او دد ے نه پس یو مونځ نشته د کومے پورے چه شاهد ختلے نهٔ وی.اوشاهد نه مراد ستورے دے[1].

[1]: دد ے حدیث نه د مازیګر د مانځهٔ لوئے فضیلت ثابت شو. او د هغے حفاظت دا دے. چه په اول وخت ئے ادا کړی. او مکروه وخت ته ئے پرینږدی. او د شیطان د ښکرو نه بعضو ویلی دی چه د هغهٔ ګروپ او لښکر مراد دے. او بعضو ویلی دی چه د هغهٔ انتشار او قوت او غلبه او فساد مراد دے. بعضو ویلی دی چه د ښکرو نه دوه غاړے د سر مراد دی. او دا قول په خپل ظاهر باندے دے او دا خبره

مسلمؒ ویلي دي . روایت کړے دے ماته زهیر بن حرب هغه ته یعقوب بن ابراهیم هغهٔ ته د هغهٔ پلار هغهٔ ته ابن اسحاق هغهٔ ته یزید بن حبیب هغهٔ ته خیر بن نعیم حضرمی هغهٔ ته عبد الله بن هُبیره او هغه ثقه دے. هغهٔ ته ابی تمیم هغهٔ ته ابی بصره غفاریؓ ابو بصرهؓ ویلي دي چه رسول اللهﷺ د مازیګر مونځ ادا کړو. او بیان ئے کړو روایت د پورته روایت په شان.

عَنْ مُوسٰى بْنِ عَلِيٍّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ الْجُهَنِيَّ يَقُولُ ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ أَوْ أَنْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى تَمِيلَ الشَّمْسُ وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ .

موسٰى بن عليؒ ویلي دي روایت کړے دے ما ته خما پلار ویلي دي چه اوریدلی دي ما د عقبه بن عامر جهنی نه چه ویلي ئے وو چه رسول اللهﷺ په دریوو ګهړو (وختونو) کښې به مونږ د مانځهٔ نه منع کولو. او د مړو د دفن کولو نه یو خو کله چه نمر راخیژي ترد ے پورے چه اوچت راشي. دویم چه صحیح غرمه وي. د کومے پورے چه زوال شوے نهٔ وي. دریم څهٔ وخت چه نمر پریوځي د کومے پورے چه پوره ډوب شوے نهٔ وي.

عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَدَّادُ بْنُ عَبْدِ اللهِ أَبُو عَمَّارٍ وَيَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ عِكْرِمَةُ وَلَقِيَ شَدَّادٌ أَبَا أُمَامَةَ وَوَاثِلَةَ وَصَحِبَ أَنَسًا إِلَى الشَّامِ وَأَثْنَى عَلَيْهِ فَضْلًا وَخَيْرًا عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ السُّلَمِيُّ كُنْتُ وَأَنَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَظُنُّ أَنَّ النَّاسَ عَلَى ضَلَالَةٍ وَأَنَّهُمْ لَيْسُوا عَلَى

عکرمه بن عمارؒ روایت کړے د شداد بن عبدالله ابو عمار او یحیٰی بن ابی کثیر نه دا دواړه راویان دي د ابی اُمامهؓ نه چه عمرو بن عبسهؓ چه د قبیله بن سلم نه دے. هغوی ویلي دي چه ما د جاهلیت په زمانه کښې یقین کولو چه خلق په ګمراهۍ کښې دي. او په څهٔ لاره باندے نهٔ دي. او هغه خلقو به تولو د بتانو عبادت کولو (یعنی ډیر یا خایونو لره لکه دلته د امام وغیره اما باره ډیر مشرکان جوړ وي) غرض دا چه هغوی اووے. چه ما خبر اوریدلے د یو سړي چه په مکه کښې دے. او

قوي ده . او هغه خپل سر په دے واسطه نمر ته نږدے راوړي. چه کوم خلق نمر ته سجده کوي هغه به ئے شیطان ته کوي. او هغه مسجود بے فلاح کیني. او د نمر عبادت کونکي دغه وخت هغهٔ ته سجده او عبادت کوي. څکه دغه وخت مونځ کول مکروه شول او کوم خلق چه په وجه د تقلید ملاؤ عین د فلسفه سره د داسے خبرو نه انکار کوي. هغه خپل عقل د خدائے او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه لوئی ګڼړي. نو د دوی نه زیات بے عقله په دنیا کښې څوک نشته .

شَيْءٍ وَهُمْ يَعْبُدُونَ الْأَوْثَانَ فَسَمِعْتُ
بِرَجُلٍ بِمَكَّةَ يُخْبِرُ أَخْبَارًا فَقَعَدْتُ عَلَى
رَاحِلَتِي فَقَدِمْتُ عَلَيْهِ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْفِيًا جُرَءَاءُ عَلَيْهِ
قَوْمُهُ فَتَلَطَّفْتُ حَتَّى دَخَلْتُ عَلَيْهِ بِمَكَّةَ
فَقُلْتُ لَهُ مَا أَنْتَ قَالَ أَنَا نَبِيٌّ فَقُلْتُ وَمَا
نَبِيٌّ قَالَ أَرْسَلَنِي اللهُ فَقُلْتُ وَبِأَيِّ شَيْءٍ
أَرْسَلَكَ قَالَ أَرْسَلَنِي بِصِلَةِ الْأَرْحَامِ وَكَسْرِ
الْأَوْثَانِ وَأَنْ يُوَحَّدَ اللهُ لَا يُشْرَكُ بِهِ شَيْءٌ
قُلْتُ لَهُ فَمَنْ مَعَكَ عَلَى هٰذَا قَالَ حُرٌّ وَعَبْدٌ
قَالَ وَمَعَهُ يَوْمَئِذٍ أَبُو بَكْرٍ وَبِلَالٌ مِمَّنْ آمَنَ بِهِ
فَقُلْتُ إِنِّي مُتَّبِعُكَ قَالَ إِنَّكَ لَا تَسْتَطِيعُ ذٰلِكَ
يَوْمَكَ هٰذَا أَلَا تَرَى حَالِي وَحَالَ النَّاسِ وَلٰكِنِ
ارْجِعْ إِلَى أَهْلِكَ فَإِذَا سَمِعْتَ بِي قَدْ ظَهَرْتُ
فَأْتِنِي قَالَ فَذَهَبْتُ إِلَى أَهْلِي وَقَدِمَ رَسُولُ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَكُنْتُ فِي
أَهْلِي فَجَعَلْتُ أَتَخَبَّرُ الْأَخْبَارَ وَأَسْأَلُ النَّاسَ
حِينَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ حَتَّى قَدِمَ عَلَيَّ نَفَرٌ مِنْ
أَهْلِ يَثْرِبَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ فَقُلْتُ مَا
فَعَلَ هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِي قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَقَالُوا
النَّاسُ إِلَيْهِ سِرَاعٌ وَقَدْ أَرَادَ قَوْمُهُ قَتْلَهُ فَلَمْ
يَسْتَطِيعُوا ذٰلِكَ فَقَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَدَخَلْتُ
عَلَيْهِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَتَعْرِفُنِي قَالَ نَعَمْ

هغهٔ دير شان خبرونه وركوى. او پخپله سورلئ باندے كيناستم او د هغهٔ په خدمت كښې حاضر شوم. او رسول الله ﷺ په دغه ورځو كښې پټ وو. او د هغهٔ قوم په هغهٔ باندے غالب او مسلط وو. بيا ما نرمى اوكړه (يعنى چل وغيره) او زهٔ مكے ته داخل شوم. او هغهٔ ته مے عرض اوكړو چه تهٔ څوك ئې؟ هغهٔ اوفرمايل زهٔ نبى يم ما عرض اوكړو نبى څهٔ ته وائى؟ هغهٔ اوفرمايل زهٔ الله پيغام رسونكے رالېږلے يم ما اووے. تاله ئے څهٔ پيغام دركړے رالېږلے ئې؟ حضرت اوفرمايل ماته ئے پيغام راكړے دے د خپلوانو سره د نيكئ كولو او د بتانو د ماتولو. او يواځے د الله تعالى د عبادت كولو. او هغهٔ سره چا لره د نهٔ شريكولو. ما هغهٔ ته بيا عرض اوكړو چه ستا سره څوك شته په دے دين باندے؟ هغهٔ اوفرمايل. آزاد او غلام. راوى وائى په دغه ورځو كښې د هغهٔ سره ابوبكر او بلال وو. چه هغوى په هغهٔ باندے ايمان راوړے وو. بيا ما عرض اوكړو. چه زهٔ ستا ملګرتيا كول غواړم. حضرت اوفرمايل په دے ورځو به ستا نه اونهٔ شى ځكه چه تهٔ ځما او د خلقو حال ته نهٔ ګورے. مګر تهٔ خپل كور ته واپس لاړ شه بيا چه كله واورے چه زهٔ غالب شوم. نو ځما خواله راشه هغوى وائى چه زهٔ خپل كور ته لاړم. او رسول الله ﷺ مدينے ته راغے. او ما به په خپل كور كښې د خلقو سره خبرے كولے. او تپوس به م كولو. هر كله چه هغه مدينے ته راغے او ماتپوس اوكړو چه ولے هغه صاحب څهٔ اوكړو چه مدينے ته راغلے دے؟ هغوى اووے چه خلق د هغهٔ په لټولو پسے ګرځيدول او د هغهٔ قوم هغهٔ لره وژل غوښتل مګر څهٔ ئے اونكړے شو. بيا زهٔ مدينے ته راغلم او هغهٔ ته حاضر شوم. او ما اووے. اے د الله رسوله! تهٔ ما پيژنے؟ هغهٔ اووے. آو. تهٔ هغه ئے چه ځما سره په مكه كښې ميلاو شوے وے. بيا ما

أَنْتَ الَّذِي لَقِيتَنِي بِمَكَّةَ قَالَ فَقُلْتُ بَلَى فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ أَخْبِرْنِي عَمَّا عَلَّمَكَ اللهُ وَأَجْهَلُهُ أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلَاةِ قَالَ صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَتَّى تَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ حِينَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّ حِينَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ قَالَ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ فَالْوُضُوءَ حَدِّثْنِي عَنْهُ قَالَ مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ فَيَتَمَضْمَضُ وَيَسْتَنْشِقُ فَيَنْتَثِرُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ وَفِيهِ وَخَيَاشِيمِهِ ثُمَّ إِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا

اووے. جی آو! بیا ما عرض اوکړو چه اے د الله نبی ! ما ته اوښایه څۀ چه الله تاته ښودلی دی. او زۀ نۀ پوهیږم او ما د مانځۀ نه خبر کړه. بیا هغۀ اوفرمایل. د سحر مونځ کوه. بیا د مانځۀ نه بند اوسه د هغې پورې چه نمر رااوخیژی اوچت شی. ځکه چه هغه د شیطان د دواړو ښکرو په مینځ کښې رااوځی. او دغه وخت کافر خلق هغۀ ته سجده کوی (بیا کۀ چرے تاسو هم مونځ کوئ نو د هغوی سره مشابهت شو) بیا چه کله نمر اوچت شو نو مونځ کوه. چه د هغه وخت د مانځۀ کراماً کاتبین ګواهی ورکوی او فرښتے حاضریږی (یعنی مقبول وی) تر دے پورے چه بیا سورے د نیزے د هغے په سر باندے راشی (یعنی ښۀ غرمه شی) بیا مونځ مۀ کوه. ځکه چه دغه وخت د جهنم اور چیے وهی. بیا چه کله دا سورے راشی (یعنی نمر زوال اوومی) بیا مونځ کوه. ځکه چه ددغه وخت په مانځۀ کښې فرښتے ګواهی ورکوی او حاضریږی. تر دے پورې چه اولولے تۀ مازیګر لره. بیا منع اوسیږه د مانځۀ نه تر دے چه نمر پریوځی. ځکه چه هغه ډوبیږی د شیطان د دواړو ښکرو په مینځ کښې. په دغه وخت کافر هم هغۀ ته سجده کوی. بیا ما عرض اوکړو اے د الله نبی ! اوس اودس راته هم اوفرمایه هغۀ اوفرمایل څوک ستاسو نه داسے نشته دے چه د اودس دپاره اوبۀ واخلی خلۀ کنګال کړی او پوزے ته اوبۀ واچوی او پورته سونړ کړی مګر غورځیږی په دے سره د مخ او د خلے او د سپیږمو ټول ګناهونه د هغۀ د ږیرے د طرفونو نه په اوبو سره بیا چه کله هغۀ لاس وینځی د څنګلو پورے نو غورځیږی د دواړو لاسونو ګناهونه د هغۀ د ګوتو د بندونو نه په اوبو سره. بیا چه د سر مسح کوی نو غورځیږی د هغۀ د سر ګناهونه د هغۀ د وینختو د سوکو نه د اوبو سره. بیا چه خپلے دواړه خپے وینځی د ګیټو پورے نو

رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلّٰهِ إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ فَحَدَّثَ عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ أَبَا أُمَامَةَ صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ أَبُو أُمَامَةَ يَا عَمْرُو بْنَ عَبَسَةَ انْظُرْ مَا تَقُولُ فِي مَقَامٍ وَاحِدٍ يُعْطَى هٰذَا الرَّجُلُ فَقَالَ عَمْرٌو يَا أَبَا أُمَامَةَ لَقَدْ كَبِرَتْ سِنِّي وَرَقَّ عَظْمِي وَاقْتَرَبَ أَجَلِي وَمَا بِي حَاجَةٌ أَنْ أَكْذِبَ عَلَى اللهِ وَلَا عَلَى رَسُولِ اللهِ لَوْ لَمْ أَسْمَعْهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا حَتَّى عَدَّ سَبْعَ مَرَّاتٍ مَا حَدَّثْتُ بِهِ أَبَدًا وَلٰكِنِّي سَمِعْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ

غوږ خیږې د دواړو خپو ګناهونه د ګوتو د بندونو نه د اوبو سره. بیا کهٔ چرې هغه اودریدو. او هغهٔ مونځ ادا کړو او د الله تعریف ئې بیان کړو او صفتونه ئې بیان کړل څنګه چه د هغهٔ د شان سره لائق دی. او خپل زړهٔ ئې خاص د هغهٔ دپاره او د هغهٔ دغیر نه ئې خالي کړو نو هغه بیشکه د خپلو ګناهونو نه داسې صفا شو لکه چه د هغهٔ مور ترې زیږولے دے. بیا دا حدیث عمرو بن عبسه ابو امامه ته بیان کړو. چه هغه صحابي وو د رسول الله ﷺ. نو ابو امامه اووے اے عمر بن عبسه ګوره ته څهٔ وائې چه چرته په یو ځائې کښې بنده ته دومره ثواب میلاویږي؟ (یعني ستا په بیان کښې څهٔ فرق دے) بیا عمرو بن عبسه اووے. اے ابوامامه! زهٔ بوډا یم او څما هډوکي ویلې شوي دي. او د مرګ په غاړه یم بیا ما ته څهٔ ضرورت دے چه په الله او د هغهٔ په رسول الله ﷺ باندے دروغ اووایم کهٔ چرے ما دوه یا درے د اووهٔ ځلو پورے اوریدلے وے نو هم م نهٔ بیانولو. مګر ما ددے نه هم زیات ځله اوریدلي دي (هر کله چه ئې بیان اوکړو. غرض دا دے چه ښهٔ تحقیق لره نهٔ دا چه کهٔ د اوهٔ ځله نه کم کچرے واوري نو روایت روا نهٔ دے)

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ وَهِمَ عُمَرُ إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَحَرَّى طُلُوعُ الشَّمْسِ وَغُرُوبُهَا

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشه فرمایلي دي چه حضرت عمر ته وَهَم اوشو چه رسول الله ﷺ خو ددے نه منع کړے ده. چه څوک د راختو او د ډوبیدو په وخت مونځ ادا کوي[1].

[1] قاضي عیاض رحمه الله ویلي دي چه حضرت عائشې رضی الله عنها دا په دے وجه اوفرمایل چه هغوی روایت کړے دے د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه چه هغه به دوه رکعته د مازیګر نه پس ادا کولو. او کوم روایت چه عمر رضی الله عنه کړے دے. هغے لره ابوسعید او ابوهریره رضی الله عنهما هم بیان کړے دے. او د هغے خبر دے راویانو ورکړے دے. او په دغه دواړو راویانو کښې تطبیق په دے شکل باندے دے. چه د حضرت عائشې رضی الله عنها ددغه روایت مطلب دا دے. چه د سحر د مانځهٔ عادت همیشه په دغه وخت باندے نهٔ کوي چه نمر رااوخیژي. هغه وخت دِ نې ادا کوي. او دغه شان د مازیګر عادت دِ د نمر د پریوتو په وخت نه ساتي او کومو روایتونو کښې چه نهي وارد شوي ده. د هغے نه هغه مونځونه مراد دي. چه هغه بلا سبب ادا کیږي یعني نوافل وغیره.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لَمْ يَدَعْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ قَالَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَتَحَرَّوْا طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوبَهَا فَتُصَلُّوا عِنْدَ ذٰلِكَ

د مسلمانانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے. هغے فرمایلی دی چه رسول اللهﷺ چرته نهٔ دی پریخودی دوه رکعته روستو د مازیګر نه او حضرت عائشےؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ اوفرمایل. خاص خپل مونځونو لره د نمر د راختو او د نمر د پریوتو په وخت د ادا کولو عادت مهٔ جوړوئ چه همیشه ئې په دغه وخت ادا کوئ.

عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَزْهَرَ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَرْسَلُوهُ إِلَى عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنَّا جَمِيعًا وَسَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ وَقُلْ إِنَّا أُخْبِرْنَا أَنَّكِ تُصَلِّينَهُمَا وَقَدْ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهُمَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَكُنْتُ أَضْرِبُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ النَّاسَ عَلَيْهَا قَالَ كُرَيْبٌ فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا وَبَلَّغْتُهَا مَا أَرْسَلُونِي بِهِ فَقَالَتْ سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِمْ فَأَخْبَرْتُهُمْ بِقَوْلِهَا فَرَدُّونِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ بِمِثْلِ مَا أَرْسَلُونِي بِهِ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْهُمَا ثُمَّ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيهِمَا أَمَّا حِينَ صَلَّاهُمَا فَإِنَّهُ صَلَّى

کریب چه د ابن عباسؓ آزاد کړے غلام دے. هغه روایت کوی چه عبد الله بن عباسؓ او عبد الرحمٰن بن ازهر او مسور بن مخرمهؓ دے تولو زهٔ د حضرت عائشےؓ بی بی مطهره د نبی کریمﷺ خواله اولیږلم او راته ئې اوویل چه زمونږ د طرفه به د هغے په خدمت کښې سلام عرض کړے. او د هغه دواو رکعتونو د حال تپوس تر نه اوکړه. چه هغه د مازیګر نه پس ادا کیږی. او دا عرض اوکړه چه مونږ ته خبر رارسیدلے دے چه تهٔ ئې ادا کوے. او دا هم خبر رارسیدلے دی چه رسول اللهﷺ د دے نه منع فرما یلی ده او ابن عباسؓ ویلی دی چه ما به د عمرؓ سره یو ځائے خلقو لره د دے د کولو نه منع کولو (د دے نه معلومه شوه چه حاکم له ضروری دی چه خپل رعیت د خلاف شرع خبرو او بدعتونو نه منع کوی او را ایره وی ئې). کریبؓ وائی چه زهٔ د حضرت عائشےؓ خواله لاړم. هغے اوفرمایل چه د ام سلمهؓ نه تپوس اوکړه (د دے نه معلومه شوه چه مفتی ته کچرے معلومه وی چه څوک سرے څما نه زیات پوهه دے نو سوال کولو والا د هغهٔ خواله اولیږی او په دے کښې د حسد نهٔ کوی) بیا زهٔ د هغه خلقو خواله راغلم او د حضرت عائشےؓ د جواب خبر م هغوی ته ورکړو (د دے نه پیغام رسونکی ادب معلوم شو چه هغوی په خپل رائے سره تصرف لو نهٔ کړو چه د اُم سلمهؓ خواله لاړشی. بلکه چا چه لیږلے وُو هغوی ته ئې خبر ورکړو) بیا هغه خلقو زهٔ اُم سلمهؓ ته اولیږلم او هغه پیغام ئې راکړو. کوم چه

الْعَصْرَ ثُمَّ دَخَلَ وَعِنْدِي نِسْوَةٌ مِنْ بَنِي حَرَامٍ مِنَ الأَنْصَارِ فَصَلاَّهُمَا فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ الْجَارِيَةَ فَقُلْتُ قُومِي بِجَنْبِهِ فَقُولِي لَهُ تَقُولُ أُمُّ سَلَمَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَسْمَعُكَ تَنْهَى عَنْ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ وَأَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا فَإِنْ أَشَارَ بِيَدِهِ فَاسْتَأْخِرِي عَنْهُ قَالَ فَفَعَلَتِ الْجَارِيَةُ فَأَشَارَ بِيَدِهِ فَاسْتَأْخَرَتْ عَنْهُ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ يَا بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ سَأَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِنَّهُ أَتَانِي نَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ بِالإِسْلاَمِ مِنْ قَوْمِهِمْ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ

ئې حضرت عائشې ؓ ته د لیږلو په وخت راکړې وو. نو اُم سلمهؓ اوفرمایل ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه. چه هغهؐ منع فرمایلی وه. بیا ما هغهؐ پخپله په ادا اولیدو. کله چه ما هغهؐ له په کولو اولیدو او هغهٔ مازیګر کړې وو. او ځما کورته راغې. او ځما سره د انصارو د قبیلهٔ حرام یو څو ښځې ناستې وې. نو ما یوه جینۍ اولیږله او هغې ته م اووې چه تهٔ د حضرتؐ په خوا کښې اودریږه او هغهٔ ته عرض اوکړه. چه ام سلمهؓ ګزارش کوی چه اې د الله رسوله ما اوریدلی وو چه تا د دې رکعتونو نه منع فرمایلې وه. او بیا تا له په کولو وینم (د دې نه معلومه شوه چه کله د خپل پیشوا نه څوک څهٔ خلاف اووینی نو سوال د کوی په ادب سره. کهٔ د هغهٔ هیر شوی وی نو د هغې نه به راواوګرځی. ګنی حکمت به بیان کړی د هغې) بیا کهٔ چرې هغهٔ ستا په طرف اشاره په لاس سره اوکړه نو شا ته اودریږه (معلومه شوه چه په اشاره کولو سره مونځ نهٔ ماتیږی) ام سلمهؓ فرمائی. چه بیا هغې جینۍ دغه شان اوکړل. او هغهٔ په لاس سره اشاره اوکړه. او هغه روستو اودریده. بیا چه کله هغهٔ مونځ ادا کړو. نو وې فرمایل. چه اې لور د ابی اُمیّه تا د هغه رکعتونو د حکم تپوس اوکړو. چه هغه د مازیګر نه پس ما اوکړل. د هغې وجه دا وه چه ځما سره د قبیله عبد القیس څهٔ خلق د اسلام راوړو د پاره راغلی وو. او د خپل قوم پیغام ئې راوړې وو. نو زهٔ په هغې کښې مشغول وو نو د ماسپخین نه پس دوه رکعته م او نهٔ کړل دا هغه وو[1].

[1] د دې حدیث نه څو فائدې اوشولې. اول دا چه د ماسپخین نه پس دوه رکعتونه ثابت شو. دویم کله چه سنت د ورځې قضاء شی د هغې ادا مستحب ده. او د شافیو په نز دغه مذهب صحیح دې. او ثابته شوه چه کوم مونځ په څهٔ وجه سره قضاء شی هغه په مکروه وختونو کښې هم ادا کول جائز دی. په خلاف د دې چه د هغې څهٔ سبب نهٔ وی چه هغه مکروه دې. لکه چه مونږ پورته ویلی دی. او معلومه شوه چه مونځ د شپې او د ورځې دوه دوه رکعته دې. او د جمهورو دغه مذهب دې. او معلومه شوه چه که دوه څیزونه جمع وی.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ عَنِ السَّجْدَتَيْنِ اللَّتَيْنِ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهِمَا بَعْدَ الْعَصْرِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّيهِمَا قَبْلَ الْعَصْرِ ثُمَّ إِنَّهُ شُغِلَ عَنْهُمَا أَوْ نَسِيَهُمَا فَصَلَّاهُمَا بَعْدَ الْعَصْرِ ثُمَّ أَثْبَتَهُمَا وَكَانَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَثْبَتَهَا

ابوسلمهؓ د حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو د هغه دوه رکعتونو په باره کښې کوم چه رسول الله ﷺ د مازیګر نه پس کول. نو هغوی اوفرمایل چه هغهٔ به د مازیګر نه مخکښې ادا کولو. بیا یو خل هغهٔ ته څهٔ کار راغے یائے هیر شو. نو د مازیګر نه پس ئے اوکړل. او د هغهٔ عادت وو چه کهٔ به ئے څهٔ مونځ کولو نو همیشه به ئے کولو. بیا به ئے دے لره هم همیشه کول[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِي قَطُّ

حضرت عائشهؓ فرمائی. چه دوه مونځونه خو رسول الله ﷺ ځما په کور کښې چرته پریخودی نهٔ دی. نهٔ په ښکاره او نهٔ په پټه دوه رکعتونه د سحر (د فرضو نه) مخکښې او دوه د مازیګر نه پس[2].

عَنْ أَبِي إِسْحَقَ عَنِ الْأَسْوَدِ وَمَسْرُوقٍ قَالَا نَشْهَدُ عَلَى عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ مَا كَانَ يَوْمُهُ الَّذِي كَانَ يَكُونُ عِنْدِي إِلَّا صَلَّاهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي تَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ

ابو اسحٰق د اسود او مسروق نه روایت کړے دے. چه دواړو ویلی دی چه مونږ ګواهي ورکوو. چه حضرت عائشےؓ فرمایلی دی چه د رسول الله ﷺ نمبر چه به کله ځما په کور کښې وو. په هغه ورځ به ئے ضرور دوه رکعتونه ادا کول. یعنی د مازیګر نه پس.

بَابُ اسْتِحْبَابِ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ

باب : د ماښام د مانځهٔ نه مخکښې د دوو رکعتو د کولو بیان

عَنْ مُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ الْعَصْرِ فَقَالَ كَانَ

مختار بن فلفل ویلی دی چه ما د انس بن مالکؓ نه د هغه نفلو په باره کښې تپوس اوکړو کوم چه د مازیګر نه پس ادا کیږی. هغوی اووے چه

نو په کومے کښې چه مصلحت زیات وی هغے لره اختیاره وی؛ لکه چه هغه د ماسپخین سنت پریخودل او د قوم هدایت لره ئے مخکښې کړو. ځکه چه اسلام د چا قوم سرې د سنتو نه اولی دے.

[1] : دد ے حدیث نه معلومه شوه چه دا دوه رکعتونه د مازیګر نه مخکښې سنت دی. او قاضی عیاضؒ ویلی دی چه دغے لره د ماسپخین سنت ګنړل پکار دی. ځکه چه په ټولو روایتونو کښې تطبیق راشی. او سنت د ماسپخین دے ته هم ویلے شی چه هغه د مازیګر نه مخکښې ادا کیږی. پس د حضرت عائشے رضی الله عنها دا فرمایل ډیر صحیح دی.

[2] : یعنی مازیګر چه ئے د کله نه هیر شول او روسته د مازیګر نه ئے یو خل اوکړل د هغے نه ئے همیش والے اوکړو. او د سحر خو به ئے همیشه دغه شان کولو.

عُمَرُ يَضْرِبُ الْأَيْدِيَ عَلَى صَلَاةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ وَكُنَّا نُصَلِّي عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْتُ لَهُ أَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّاهُمَا قَالَ كَانَ يَرَانَا نُصَلِّيهِمَا فَلَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا

حضرت عمرؓ په لاس وهلو په مانځهٔ باندے چه کومو خلقو به روستو د مازیگر نه کولو. او مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښ دوه رکعته کولو روستو د ډوبیدو د نمر نه د ماښام د مانځهٔ نه مخکښ بیا ما هغهٔ ته اووے. چه رسول الله ﷺ هم دا دوه رکعتونه کولو. هغوی اووے چه مونږ به په ادا کولو سره لیدول او د هغے حکم به ئے نهٔ کوو (یعنی په طریق د وجوب) او نهٔ ئے د هغے نه منع فرمایله[1]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا بِالْمَدِينَةِ فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ ابْتَدَرُوا السَّوَارِيَ فَيَرْكَعُونَ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ الْغَرِيبَ لَيَدْخُلُ الْمَسْجِدَ فَيَحْسِبُ أَنَّ الصَّلَاةَ قَدْ صُلِّيَتْ مِنْ كَثْرَةِ مَنْ يُصَلِّيهِمَا

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه هغوی ویلی دی چه په مدینه کښ زمونږ خلقو عادت وو چه کله به مؤذن د ماښام اذان کولو. نو تولو خلقو به د ستنو خواته منډے کړے او مونځ به ئے دوه رکعته کولو. تر دے پورې چه کهٔ نوے سړے به جماعت ته راغے نو دا به ئے گنړله چه مونځ شوے دے (غرض د هغه کثرت نه چه خلقو به هغه رکعتونو له کول)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ الْمُزَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ قَالَهَا ثَلَاثًا قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَاءَ

د مغفل ځوئ عبد اللهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. د هر اذان او تکبیر په مینځ کښ دوه رکعته مونځ دے. درے ځله ئے داسے اوفرمایل او په دریم ځله ئے اوفرمایل کهٔ د چا زړهٔ غواړی ادا د ئے کړی (یعنی مؤکد نهٔ دی)

مسلمؒ ویلی دی. روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر بن ابی شیبه هغهٔ ته عبد الاعلی هغهٔ ته جریری هغهٔ ته عبد الله بن بریده هغهٔ ته عبد الله بن مغفل رضی الله هغوی د نبی ﷺ نه په مثل د دے مگر

---

[1]: د دے روایت نه د ماښام د اذان او د فرضو په مینځ کښ د دوو رکعتونو مستحب کیدل ثابت شو او دا صحیح ده. چه دا مستحب دی. او یو جماعت د صحابو او تابعینو په شان د احمد او اسحق رحمهما الله د دے طریقے ته مستحب ویلے ده. او ابوبکر او عمر او عثمان او علی رضی الله عنهم او نورو صحابهٔ کرامو به د دے لره مستحب نهٔ گنړل. او دغه شان ویلی دی اکثرو فقهاؤ او نخعی رحمه الله د دے ته بدعت ویلے دے. مگر دا روایتونه په هغه تولو باندے حجت دی. (د خلفائے راشدین رضی الله عنهم وغیره په شان امام ابوحنیفه رحمه الله هم دغه رکعتونو لره مستحب نهٔ گنړی. عارف)

بَاب صَلَاةِ الْخَوْفِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ بِإِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ رَكْعَةً وَالطَّائِفَةُ الْأُخْرَى مُوَاجِهَةُ الْعَدُوِّ ثُمَّ انْصَرَفُوا وَقَامُوا فِي مَقَامِ أَصْحَابِهِمْ مُقْبِلِينَ عَلَى الْعَدُوِّ وَجَاءَ أُولَئِكَ ثُمَّ صَلَّى بِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَضَى هَؤُلَاءِ رَكْعَةً وَهَؤُلَاءِ رَكْعَةً

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَوْفِ وَيَقُولُ صَلَّيْتُهَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِهَذَا الْمَعْنَى

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَعَهُ وَطَائِفَةٌ بِإِزَاءِ الْعَدُوِّ فَصَلَّى بِالَّذِينَ مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ ذَهَبُوا وَجَاءَ الْآخَرُونَ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً ثُمَّ قَضَتِ الطَّائِفَتَانِ رَكْعَةً رَكْعَةً قَالَ وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ

هغوی د دریم خل په ځائے د څلورم خل روایت کړے دے. چه هغهٔ اوفرمایل چه د چا زړهٔ غواړی.

باب: د یَرے د مانځهٔ بیان

عبد الله بن عمرؓ وایلی دی چه رسول اللهﷺ د یرے په وخت د یو جماعت سره یو رکعت اوکړو او دویم جماعت د دښمن مخے ته وو. بیا دا جماعت لاړو او د دښمن په مخکښې جماعت یعنی د دویم جماعت په ځائے اودریدو. او دویم جماعت راغے او رسول اللهﷺ د هغوی سره هم یو رکعت ادا کړو. بیا حضرتؐ سلام اوګرځوو او هر جماعت خپل یو یو رکعت ځانله جدا جدا ادا کړو[1].

سالم بن عبد اللهؓ د خپل پلار نه روایت کوی. چه هغه بیان کولو د یرے د مانځهٔ د رسول اللهﷺ فرمایلی ئے وو چه ما د رسول اللهﷺ سره مونځ کړے دے. لکه چه پورته تیر شو.

عبد الله بن عمرؓ وایلی دی چه رسول اللهﷺ د یرے مونځ کړے دے. بعضے ورځ په دے شان چه یو جماعت به د هغهٔ سره اودریدو او یو جماعت به د دښمن مخے ته شو او هغهٔ به د خلقو سره یو رکعت ادا کړو. بیا به هغه جماعت د دښمن په طرف باندے لاړو او هغه دویم جماعت به راغے د هغوی سره به ئے هم یو رکعت ادا کړو. بیا به دواړو جماعتونو خپل خپل دویم رکعت ادا کړو. او ابن عمرؓ

---

[1] د یرے د مانځهٔ په باب کښې روایتونه ډیر دی. او ټول صورتونه روا دی. او په افضلیت او اولیت کښې هر یو یو صورت غوره کړے دے. دغه رنګې د ے روایت لره اوزاعی او اشهب مالکی اختیار کړے دے او د شافعی رحمه الله په نز جائز دے. او دا هم وایلی شوی دی چه د دغه دواړو جماعتونو یو یو رکعت په جمع ادا کړ. مګر صحیح دادہ چه جدا جدائے ادا کړے وو.

فَإِذَا كَانَ خَوفٌ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَصَلِّ رَاكِبًا أَوْ قَائِمًا تُومِئُ إِيمَاءً

ویلی دی. هر کله چه یره دد ے نه هم زیاته وه. نو په سورلۍ باندے یا په ولاړے ولاړے د په اشاره سره اوکړی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ فَصَفَّنَا صَفَّيْنِ صَفٌّ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْعَدُوُّ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَكَبَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَبَّرْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَكَعَ وَرَكَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَرَفَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نَحْرِ الْعَدُوِّ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ وَقَامَ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ وَقَامُوا ثُمَّ تَقَدَّمَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ وَتَأَخَّرَ الصَّفُّ الْمُقَدَّمُ ثُمَّ رَكَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَرَفَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ الَّذِي كَانَ مُؤَخَّرًا فِي الرَّكْعَةِ الْأُولٰى وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نُحُورِ الْعَدُوِّ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ فَسَجَدُوا ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمْنَا جَمِيعًا قَالَ جَابِرٌ كَمَا يَصْنَعُ حَرَسُكُمْ هٰؤُلَاءِ بِأُمَرَائِهِمْ

جابر بن عبد اللهؓ ویلی دی چه زهٔ حاضر وم د رسول اللهﷺ د یرے په مانځهٔ کښې. بیا مونږ ټول دوه صفونه شو په حضرتؐ پسے دغه وخت دښمن زمونږه او د قبلے په مینځ کښې وو. او حضرتؐ تکبیر اولی اووے. او مونږ ټولو هم اووے. او رسول الله رکوع اوکړه. او مونږ ټولو هم. بیا هغهٔ او مونږ د رکوع نه سر اوچت کړو. بیا سجدے ته ښکته شو هغهٔ هم او هغه صف هم کوم چه هغهٔ ته نږدے وو. او دویم صف د دښمن په مخکښې ولاړ پاتے شو. بیا چه کله حضرت سجده اوکړه او هغه صف هم کوم چه هغهٔ ته نږدے وو اودریدو او روستو صف ولاسجدی له لاړو. او کله چه اودریدو نو روستے صف مخکښې شو او د مخکښې صف روستو شو او رکوع اوکړه نبیﷺ او مونږ ټولو د هغهٔ سره رکوع اوکړه (یعنی دواړو صفونو) بیا هغهٔ او مونږ ټولو سر اوچت کړو. بیا هغه سجدے له لاړو او د هغه صف خلق کوم چه د هغهٔ په خوا کښې وو چه هغه په ړومبی رکعت کښې روستو وو ټول سجدے له لاړو او روستے صف د ښمن ته مخامخ اودریدهٔ (یعنی کوم چه په ړومبی رکعت کښې مخکښې وو) بیا چه که نبیﷺ سجده اوکړه او هغه صف کوم چه د هغهٔ په خوا کښې وو. نو بیا روستے صف سجدی ته ښکته شو او هغوی سجده اوکړه. بیا سلام اوګرځوو نبی کریمؐ او مونږ ټولو. جابرؓ ویلی دی. لکه چه نن صبا ستاسو څوکیداران ستاسو د سردارانو سره کوی[1].

[1] ددے حدیث سره امام شافعیؒ او ابن ابی لیلیؒ او ابو یوسفؒ تمسک کړے دے. چه هر کله دښمن د قبلے په طرف وی په دے شان ادا کوی: او د شافعیؒ په نزد مخکښې صف روستو کیدل او د روستو صف مخکښې کیدل جائز دي. لکه چه په دے روایت کښې راغلی دی. او که چرے په خپل ځائے پاتے شي ورانده ے روستو نهٔ شی نو هم روا دی. لکه چه د ابن عباس په روایت کښې راغلی دی.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمًا مِنْ جُهَيْنَةَ فَقَاتَلُوْنَا قِتَالًا شَدِيْدًا فَلَمَّا صَلَّيْنَا الظُّهْرَ قَالَ الْمُشْرِكُوْنَ لَوْ مِلْنَا عَلَيْهِمْ مَيْلَةً لَاقْتَطَعْنَاهُمْ فَأَخْبَرَ جِبْرِيْلُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَقَالُوْا إِنَّهُ سَتَأْتِيْهِمْ صَلَاةٌ هِيَ أَحَبُّ إِلَيْهِمْ مِنَ الْأَوْلَادِ فَلَمَّا حَضَرَتِ الْعَصْرُ قَالَ صَفَّنَا صَفَّيْنِ وَالْمُشْرِكُوْنَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ قَالَ فَكَبَّرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَبَّرْنَا وَرَكَعَ فَرَكَعْنَا ثُمَّ سَجَدَ وَسَجَدَ مَعَهُ الصَّفُّ الْأَوَّلُ فَلَمَّا قَامُوْا سَجَدَ الصَّفُّ الثَّانِيْ ثُمَّ تَأَخَّرَ الصَّفُّ الْأَوَّلُ وَتَقَدَّمَ الصَّفُّ الثَّانِيْ فَقَامُوْا مَقَامَ الْأَوَّلِ فَكَبَّرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَبَّرْنَا وَرَكَعَ فَرَكَعْنَا ثُمَّ سَجَدَ مَعَهُ الصَّفُّ الْأَوَّلُ وَقَامَ الثَّانِيْ فَلَمَّا سَجَدَ الصَّفُّ الثَّانِيْ ثُمَّ جَلَسُوْا جَمِيْعًا سَلَّمَ عَلَيْهِمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ ثُمَّ خَصَّ جَابِرٌ أَنْ قَالَ كَمَا يُصَلِّيْ أُمَرَاؤُكُمْ هٰؤُلَاءِ

جابرؓ وايي دي چه جهاد اوكړو مونږ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا كښې د يو قسم سره د قبيله بني جُهينه سره او هغه ډير او جنګيدو. بيا چه مونږ ماسپخين اوكړل مشركانو اووې چه افسوس مونږ په دوى باندې حمله كړې وې. نو دوى به مو پريكړي وې. جبرائيلؑ رسول الله ﷺ ته د هغې خبر وركړو. او حضرت ﷺ مونږ ته ذكر اوكړو. او مشركانو اووې. چه هغوى ته يو بل مونځ راروان دې چه هغه هغوى ته د اولاد نه هم زيات عزيز دې. بيا چه كله د مازيګر وخت راغې نو مونږه دوه صفونه جوړ كړل (يعني وړاندې روستو) او مشركان د قبلې طرفته وو. او تكبير اولي اووې. رسول الله ﷺ او مونږه تولو. او ركوع اوكړه هغهٔ او مونږه تولو (يعني دواړه صفونه د ركوع پورى شريك وو) او سجده اوكړه هغهٔ او رومبي صف. بيا چه كله هغهٔ او رومبي صف اودريدو نو دويم صف سجده اوكړه. او رومبي صف روستو او روستو صف مخكښې شو. او الله اكبر اووې. رسول الله ﷺ او مونږه تولو. او ركوع اوكړه هغهٔ او مونږه تولو او سجده اوكړه د هغهٔ سره اول صف او دويم صف هغه شان ولاړ پاتې شو. بيا چه كله دويم هم سجده اوكړه نو تول كيناستو او تولو ته رسول الله ﷺ سلام اوګرځولو. ابو الزبيرؒ وايي دي چه جابرؓ يوه خبره بله هم اوكړه چه لكه نن صبا دا ستاسو حاكمان كوي.

عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِأَصْحَابِهِ فِي الْخَوْفِ فَصَفَّهُمْ خَلْفَهُ صَفَّيْنِ فَصَلَّى بِالَّذِيْنَ يَلُوْنَهُ رَكْعَةً ثُمَّ قَامَ فَلَمْ يَزَلْ قَائِمًا حَتّٰى صَلَّى الَّذِيْنَ خَلْفَهُمْ رَكْعَةً ثُمَّ تَقَدَّمُوْا وَتَأَخَّرَ

سهل بن ابي حثمهؓ وايي دي چه رسول الله ﷺ به د خپلو يارانو سره د يرې مونځ داسې ادا كوو چه د ځان نه شاته به ئې دوه صفونه جوړ كړل او رومبي صف كوم چه به هغهٔ ته نژدې وو. د هغوى سره به ئې يو ركعت اوكړو. او بيا به ولاړ وو ترهغې پورې چه كوم خلق به د هغهٔ شاته وو. هغوى به خپل يو ركعت باقي ادا كړلو. بيا به هغه روستو شول او

الَّذِينَ كَانُوا قُدَّامَهُمْ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً ثُمَّ قَعَدَ حَتَّى صَلَّى الَّذِينَ تَخَلَّفُوا رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ

روستو والاکسان به مخکښې شول بیا به هغهٔ د هغوی سره یو رکعت اوکړو او کینلستو به تر دے پورې چه څوک د هغهٔ نه روستو وو هغوی به خپل یو رکعت باقی ادا کړو. نو بیا به حضرت ﷺ سلام اوګرځوو[1]

عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَمَّنْ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلَاةَ الْخَوْفِ أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ فَصَلَّى بِالَّذِينَ مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ انْصَرَفُوا فَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى فَصَلَّى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ

صالح بن خوات ؓ د داسے یو سړے نه روایت کړے دے چه هغه د یو ے مونځ کړے وو د رسول الله ﷺ سره د ذات الرقاع په ورځ (د یو ے غزا نوم دے په هغے کښې صحابو خپلو خپو له په چیرړو ترلے وے) او یوے ډلے صف جوړ کړو او د حضرت ﷺ سره ئے یو رکعت اوکړو. او یوه ډله د دښمن مخے ته پاتے شو. بیا هغهٔ د خپل ملګری صف سره یو رکعت اوکړو. بیا هغهٔ اودریدو او هغه صف والو خپل مونځ پوره کړو. بیا هغه لاړل او د دښمن په مخکښې ئے صف اوتړو. او دویمه ډله راغله او هغهٔ د هغوی سره یو رکعت باقی ادا کړو. بیا هغه کیناستهٔ او هغه خلقو خپل مونځ پوره کړلو. بیا هغهٔ د دوی ټولو سره سلام اوګرځوو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ قَالَ كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا عَلَى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَسَيْفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِشَجَرَةٍ فَأَخَذَ سَيْفَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرَطَهُ فَقَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَخَافُنِي قَالَ لَا قَالَ فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي

جابر ؓ وایی دی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره لاړو تر دے پورے چه مونږ ذات الرّقاع ته اورسیدو (رقاع د غر د یوے غونډۍ نوم دے) نو زمونږ دا چال وو چه کله به مونږ یوے سایه دارے اونے ته اورسیدو. نو هغه به مونږ د رسول الله ﷺ دپاره پریخودله. بیا یوه ورځ یو مشرک راغے او د رسول الله ﷺ توره یوے اونے ته زوړنده وه. هغهٔ توره راواخسته د کاش نه ئے راوویسته او هغهٔ ته اووے. آیا تهٔ خما نه یریږے. هغهٔ اوفرمایل نه. هغهٔ اووے څوک تا خما د لاس نه بچ کولے شی؟ حضرت ﷺ

[1] دے حدیث لره مالک او شافعی او ابوثور رحمهم الله وغیره اختیار کړے دے. او جائز ټول صورتونه دی څومره چه روایت شوی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه.

قَالَ اللهُ يَمْنَعُنِي مِنكَ قَالَ فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَغْمَدَ السَّيْفَ وَعَلَّقَهُ قَالَ فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَأَخَّرُوا وَصَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُخْرَى رَكْعَتَيْنِ قَالَ فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ وَلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ

اوفرمايل. الله ما بچ کولے شی ستا د لاس نه. بيا صحابهٔ کرامو ﷺ هغهٔ لره دباؤ کړو او هغهٔ تُوره په کاش کښې کيښودہ. په دے کښې د مانځهٔ دپاره اذان اوشو. نو هغهٔ د يوے ډلے سره دوه رکعته مونځ اوکړو . بيا هغه روستو شو. او د بلے ډلے سره ئے دوه رکعته مونځ اوکړو. ويلی دی (راوی) چه د هغهٔ څلور رکعته شول. او د نورو ټولو دوه دوه رکعته شول[1].

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ جَابِرًا أَخْبَرَهُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ صَلَاةَ الْخَوْفِ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ ﷺ بِإِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُخْرَى رَكْعَتَيْنِ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ ﷺ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَصَلَّى بِكُلِّ طَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ

ابی سلمه بن عبد الرّحمٰن ﷺ روايت کړے دے د جابر ﷺ نه. چه هغوی اوکړو د رسول الله ﷺ سره د يرے مونځ. او اوکړو رسول الله ﷺ د يوے ډلے سره دوه رکعته او بيا د بلے ډلے سره دوه رکعته. پس اوکړل رسول الله ﷺ څلور رکعتونه. او اوئے کړل د هرے يوے ډلے سره دوه رکعته[2].

ناشر: تاج کمپنی لمیٹڈ پیبنور

[1] : ددے حديث نه معلومه شوه چه د فرض کولو والا په نفل کولو والا پسے اقتداء صحيح ده خکه چه رسول الله ﷺ په آخری دوو رکعتونو کښې متنفل وو. يعنی په نفلو کښې وو. او دغه مذهب دے د امام شافعی رحمه الله او هکايت کړے شوے دے دا مذهب د حسن بصری رحمه الله نه. او طحاوی حنفی رحمه الله چه کومه دعوه کړے ده چه دا روايت منسوخ دے د هغهٔ دعوه مقبوله نهٔ ده. خکه چه د نسخ څهٔ دليل نشته. امام صاحب پخپله فرمائی چه څما کومه خبره د قرآن او حديث نه خلاف وی په ديوال ئے اوولئ نو بيا به ولے داسے لويه مسئله بے دليله وی خو دا خبرے غير مقلدين د تعصب د وجے کوی د امام صاحب هره خبره د دليل سره ده. (مصحح)

[2] د حنفی مذهب يوه مسئله هم بے دليله نهٔ ده. غير مقلدين د تعصب او د عناد په وجه دا قسمه خبرے کوی او ليکی. عارف

كِتَابُ الْجُمُعَةِ [1]

د جُمعې بيان

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْتِيَ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ

عبد الله ويلي دي چه اوريدلي دي ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمايلي ئے وو. كله چه اراده اوكړي څوک ستاسو نه چه د جمعے مانځهٔ له راشي. نو غسل د اوكړي [2].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ مَنْ جَاءَ مِنْكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ

عبد الله بن عمر د رسول الله ﷺ نه روايت كړے دے چه هغهٔ فرمايلي دي او هغه په منبر باندے ولاړ وو چه څوک ستاسو نه د جمعے مانځهٔ له راځي نو غسل دِ كوي.

مسلمؒ ويلي دي. روايت كړے دے ما ته محمد بن رافع او هغهٔ ته عبد الرزاق هغهٔ ته ابن جريج هغهٔ ته ابن شهاب هغهٔ ته سالم او عبد اللهؓ چه دواړه خامن دي د عبد الله بن عمرؓ هغوي د ابن عمرؓ نه هغوي د رسول الله ﷺ نه په مثل ددے روايت. او ويلي دي مسلمؒ روايت كړے دے ما ته حرمله بن يحيیٰ هغهٔ ته ابن وهب وئيلي دي خبر راكړے دے ما ته يونس هغهٔ ته ابن شهاب هغهٔ ته سالم بن عبد اللهؓ هغهٔ عبد اللهؓ چه اوريدلي دي هغوي د رسول الله ﷺ نه په مثل دے چه پورته ذكر شو.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ

سالم بن عبد اللهؓ د خپل پلار نه روايت كوي چه عمر بن خطابؓ د

---

[1] جمعه بضم ميم او په سكون او فتح د ميم تول جائز دي. دغه رنګے د فراء نه دغه مروي دے. او اربابانو د لغتو واحدي وغيره هم دغه ليكلي دي. او د جاهليت په ورځو كښں به د جمعے ورځے ته يوم العروبه ويلے كيده.

[2] د جمعے په ورځ غسل ته بعضے خلقو واجب ويلے دي. دغه رنګے د بعضے صحابه كرامؓ او اهل ظاهرو دغه مذهب دے. او ابن منذر د امام مالک رحمه الله نه دغه نقل كړے دے. او د حسن بصريؒ نه هم دغه منقول دے. او د جمهور سلفو او خلفو نه راغلي دي چه هغه مستحب دے او واجب نه دے. او جمهورو هم د څو روايتونو نه تمسك كړے دے. دغه رنګے يو مرفوع روايت راغلے دے. چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه چا اودس اوكړو نو خير هغه هم صحيح دے او چا چه اولامبل نو لامبل غوره دي.

الْخَطَّابِ بَيْنَا هُوَ يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ دَخَلَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَادَاهُ عُمَرُ أَيَّةُ سَاعَةٍ هٰذِهِ فَقَالَ إِنِّي شُغِلْتُ الْيَوْمَ فَلَمْ أَنْقَلِبْ إِلَى أَهْلِي حَتَّى سَمِعْتُ النِّدَاءَ فَلَمْ أَزِدْ عَلَى أَنْ تَوَضَّأْتُ قَالَ عُمَرُ وَالْوُضُوءَ أَيْضًا وَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ بِالْغُسْلِ

جمعې په ورځ خطبه لوستله چه یو صحابی د رسول الله ﷺ راغے (د نورو روایتونو نه معلومیږی چه هغه حضرت عثمانؓ وو) او حضرت عمرؓ هغهٔ ته آواز اوکړو. چه دا کوم وخت دے د راتلو (یعنی مخکښې راتلل پکار وو) نو هغوی اووے. چه ماته څهٔ کار راغے. او زهٔ کورته نهٔ وم تلے چه اذان مې واوریدهٔ نو ځما نه څهٔ او نهٔ شو فقط اودس مې اوکړو. حضرت عمرؓ اووے. چه صرف اودس بس؟ او تا ته پته ده چه رسول الله ﷺ د غسل حکم ورکولو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِذْ دَخَلَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَعَرَّضَ بِهِ عُمَرُ فَقَالَ مَا بَالُ رِجَالٍ يَتَأَخَّرُونَ بَعْدَ النِّدَاءِ فَقَالَ عُثْمَانُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَا زِدْتُ حِينَ سَمِعْتُ النِّدَاءَ أَنْ تَوَضَّأْتُ ثُمَّ أَقْبَلْتُ فَقَالَ عُمَرُ وَالْوُضُوءَ أَيْضًا أَلَمْ تَسْمَعُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْجُمُعَةِ فَلْيَغْتَسِلْ

ابو هریرهؓ ویلی دی چه حضرت عمرؓ یوه ورځ د جمعې خطبه په خلقو کښې لوستله چه عثمان بن عفانؓ راغے. او حضرت عمرؓ د هغهٔ طرفته اشاره اوکړه او دائے اووے. چه څهٔ حال به وی د هغه خلقو چه هغه د اذان نه پس حصاریږی. نو حضرت عثمانؓ اووے. چه اے امیر المؤمنین! کله چه ما اذان واوریدو نو نور څهٔ مې او نهٔ کړو سوا د اودس نه چه اودس مې اوکړو او راغلم. حضرت عمرؓ اووے. صرف دغه اودس دِ اوکړو. ولے تا نهٔ دی اوریدلی چه رسول الله ﷺ فرمایلی وو. چه کله څوک جمعې ته راځی نو ضرور دِ غسل کوی.

بَابُ وُجُوبِ غُسْلِ الْجُمُعَةِ عَلَى كُلِّ بَالِغٍ

باب: د جمعې په ورځ غسل واجب کیدل

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ

ابوسعید خدریؓ ویلی دی. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه د جمعې په ورځ لامبل په هر بالغ باندے واجب دی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُونَ الْجُمُعَةَ مِنْ مَنَازِلِهِمْ مِنَ الْعَوَالِي فَيَأْتُونَ فِي الْعَبَاءِ وَيُصِيبُهُمُ الْغُبَارُ فَتَخْرُجُ مِنْهُمُ الرِّيحُ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْسَانٌ

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشےؓ فرمایلی دی چه خلق به په وار وار د خپلو کورونو نه او د مدینے د اوچتو محلونو نه او عباگانے به ئے اغوستے وے (د اوښانو د وېښتو) او په هغے گرد پریوتے وو. او بد بوئی به ترنه ختله په دے کښې د رسول الله ﷺ خواله یو سړے

مِنْهُمْ وَهُوَ عِنْدِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّكُمْ تَطَهَّرْتُمْ لِيَوْمِكُمْ هٰذَا

راغې. په هغه ورځ هغهٔ څما سره وو . نو هغهٔ اوفرمایل کهٔ چرې تهٔ په نن ورځ غسل اوکړے نو ښهٔ به وی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ النَّاسُ أَهْلَ عَمَلٍ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ كُفَاةٌ فَكَانُوا يَكُونُ لَهُمْ تَفَلٌ فَقِيلَ لَهُمْ لَوْ اغْتَسَلْتُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

حضرت عائشه فرمائی چه خلق محنت کاره وو. او د هغوی سره نوکر چاکر خو د سره نهٔ وو څکه د هغوی نه بدبوئی راتلله نو هغوی ته حکم ورکړے شو چه د جمعې په ورځ غسل کوئ نو ښهٔ به وی.

بَابُ الطِّيبِ وَالسِّوَاكِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب : د جمعې په ورځ خوشبو او مسواك وهل

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ وَسِوَاكٌ وَيَمَسُّ مِنَ الطِّيبِ مَا قَدَرَ عَلَيْهِ إِلَّا أَنَّ بُكَيْرًا لَمْ يَذْكُرْ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ وَقَالَ فِي الطِّيبِ وَلَوْ مِنْ طِيبِ الْمَرْأَةِ

عبد الرّحمٰن بن ابوسعید خدری د خپل پلار نه روایت کوی . چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی هر خوان ته د جمعې په ورځ لامبل او مسواک کول دی. او خوشبوئی به لګوی څومره چه ترنه کیدے شی. مګر بکیر د عبد الرّحمٰن ذکر نهٔ دے کړے. او د خوشبوئۍ په باره کښې ویلی دی . اګر کهٔ د ښځې خوشبوئی وی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ ذَكَرَ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَالَ طَاوُسٌ فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ وَيَمَسُّ طِيبًا أَوْ دُهْنًا إِنْ كَانَ عِنْدَ أَهْلِهِ قَالَ لَا أَعْلَمُهُ

عبد الله بن عباس ذکر کړو د رسول الله ﷺ قول چه غسل د جمعې په باب کښې وو. نو طاؤس اووے. ابن عباس ته چه لګوی به خوشبوئی یا تیل کهٔ د هغهٔ د کور والاو سره وی. نو ابن عباس اووے ما ته دد ے علم نشته.

مسلم ویلی دی روایت کړے دے مونږ ته اسحاق بن ابراهیم هغهٔ ته محمد بن ابوبکر او ویلی دی مسلم روایت کړے دے مونږ ته هارون هغهٔ ته صحّاك دواړو د ابن جریج نه د دغے اسناد سره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَقٌّ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ

ابوهریره ویلی دی چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی د الله حق دے په هر مسلمان باندے چه په هره هفته کښې یخل لامبی او خپل سر او بدن وینځی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

ابوهریره ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی څوک چه اولامبی د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ

جمعې په ورځ د جنابت نه (په دې کښې صفا اشاره ده. چه د ښځې بی بی سره صحبت هم اوکړی) بیا لاړ شی یعنی په اول ساعت کښې نو هغه لکه چه یو اوښ قربانی کړو. او څوک چه په دویم ساعت کښې لاړ شی هغه لکه د یوې غوا قربانی اوکړه. او څوک چه په دریم ساعت کښې لاړ شی. هغه لکه یو ګډورې قربانی کړو. او څوک چه په څلورم ساعت کښې لاړو هغه لکه یو چرګ قربانی کړو. او څوک چه په پنځم ساعت کښې لاړو هغه لکه یوه اګۍ قربان کړه. پس کله چه را اووتو امام (یعنی خطبه ئې شروع کړه) نو فرښتې (یعنی حاضری لیکونکی کومو چه د جماعت په دروازه حاضری لیکله) هغه په جماعت کښې حاضرې شی او خطبه اوریدل شروع کړی (غرض دا چه دغه وخت څوک راغې د هغهٔ حاضری اونهٔ لیکلې شوه. او د راتلو د ثواب نه محروم پاتې شو. اګر کهٔ د مانځهٔ ثواب اومومی)[1].

بَابُ فِي الْإِنْصَاتِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي الْخُطْبَةِ

باب: د جمعې د خطبې په وخت به خاموش ناست ئی

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ

سعید بن مُسَیَّب ته ابوهریره خبر ورکړې دې. چه رسول الله فرمایلی دی کله چه تهٔ خپل ملګری ته اووې "چُپ شه" د جمعې په ورځ څهٔ وخت چه امام خطبه لولی. نو تا هم یوه لغوه خبره اوکړه (یعنی په اشاره بانديې چپ کول ضروری دی. دومره خبره هم منع ده)

مسلمؒ ویلی دی. روایت کړې دې خما نه عبد الملك بن

---

[1] په دې کښې اختلاف دې. چه دا د ګهړو حساب د ورځې د شروع نه دې یا د زوال د بعد نه امام مالك او د هغه اکثرو یارانو او قاضی حُسین او د امام الحرمین مذهب خو دادې چه د هغه ګهړو نه مراد د زوال نه پس څو لحظې دی. او د هغوی په نزد د زوال نه پس تلل پکار دی. او هغ خلقو دعوه کړې ده چه دغه معنی لغوی ده. او امام شافعی رحمه الله او د هغهٔ د جمهورو مذهب دادې. چه د ورځې د شروع نه تلل پکار دی. او د هغه ګهړو حساب د هغوی په نزد د ورځې د شروع نه دې. او د حبیب مالکیؒ او د جمهور علماؤ دغه مذهب دې. او د نسائی په روایت کښې راغلی دی چه کله امام را اوځی نو فرښتې صحیفې لره اونغاړی او بیا د چا حاضری نهٔ لیکی. غرض د دلائلو نه قوی مذهب دغه دې. چه مخکښې د زوال نه جماعت ته تلل پکار دی. د حضرت صلی الله علیه وسلم عادت مبارك هم دا وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغِيتَ قَالَ أَبُو الزِّنَادِ هِيَ لُغَةُ أَبِي هُرَيْرَةَ وَإِنَّمَا هُوَ فَقَدْ لَغَوْتَ

شعيب،دهغوی نه د هغوی پلار، د هغوی نه د هغوی نيکۀ، د هغوی نه عقيل بن خالد. د هغوی نه ابن شهاب، د هغوی نه عمر بن عبد العزيز، د هغوی نه عبد الله بن ابراهيم. او ابن مسيب د دواړو نه روايت کړے دے. ابوهريرهؓ وائي دی. اوريدلی دی ما د رسول اللهﷺ نه چه فرمايل ئے په شان د هغه روايت چه اوس تير شو. او ويلی دی مسلمؒ چه روايت کړے دے څمانه محمد بن حاتم د هغوی نه محمد بن بکر ، د هغوی نه ابن جريج ، د هغوی نه ابن شهاب دد ے دواړو سندونو سره ددۀ په مثل حديث روايت کړے شوے دے. خو ابن جريج ويلی دی ابراهيم بن عبد الله بن قارظ.

ابوهريرهؓ ويلی دی چه نبی کريم فرمايلی دی چه کله تۀ خپل ملګری ته اووائے "چُپ شه" د جمعې په ورځ او امام خطبه لولی. نو تا لغوه خبره اوکړه. ابو الزناد ويلی دی لَغِيتَ د ابوهريرهؓ وينا ده او دا لفظ په اصل کښ لَغَوْتَ دے[1].

بَابُ فِي السَّاعَةِ الَّتِي فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ

باب : د جُمعې په ورځ د دعا د قبليدو وخت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ فِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے. چه رسول اللهﷺ د جمعې د ورځې ذکر اوکړو او اوئے فرمايل چه په دے کښ يو ساعت داسے دے چه کوم بنده مسلمان دغه وخت مونځ کوی او د الله تعالی نه چه څۀ څيز

---

[1] : د قرآن نه دا هم معلوميږی چه په لغوه کښ واؤ شته يا نشته. لکه چه فرمايلی دی الله تعالی سُبحنه وَالْغَوا فِيْهِ او دے حديث نه معلومه شوه چه د خطبې په وخت څۀ خبرے نۀ دی کول پکار. او کۀ چرے چا لره چُپ کول هم وی خو په اشاره سره. غرض دا چه خبرے بعضے علماؤ حرامے کړی دی. او د امام شافعی په دے کښ دوه قولو نه دی. او قاضی عياض رحمه الله ويلی دی چه د امام مالك او امام ابوحنيفه او شافعی رحمهم الله او د عام علماؤ مذهب دے چه دغه وخت چُپ پاتے کيدل واجب دی د خطبې د اوريدو دپاره. او دنخعی او شعبی او بعضے سلفو نه منقول دے چه دا واجب نۀ دی مګر کله چه په خطبه کښ قران لوستلے شی. او په دے کښ هم اختلاف دے. چه کله د امام نه لرے وی او خطبه نۀ اوری بيا هم چپ پاتے کيدل واجب دی. او د نخعی او احمد رحمهما الله او يو قول د شافعی رحمه الله دا دے چه واجب نۀ دی.

يَسْأَلُ اللهَ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ زَادَ قُتَيْبَةُ فِي رِوَايَتِهِ وَأَشَارَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا

اوغواړي نو هغه ورله بيشکه ورکوي. قتيبهؒ په خپل روايت کښې په لاس سره اشاره اوکړه چه هغه ساعت ډير لږ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ قَائِمٌ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَقَالَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا يُزَهِّدُهَا

ابوهريرهؓ ويلي دي چه ابوالقاسم ﷺ فرمايلي دي په جمعه کښې يو ساعت داسې دے. چه کوم مسلمان مونځ کونکے دغه وخت د الله نه څۀ خيز اوغواړي. نو الله پاك بيشکه هغۀ له ورکوي او په خپل لاس سره هغۀ اشاره اوکړه. چه هغه ډير لږ دے.

مسلمؒ ويلي دي روايت کړے دے مونږ ته ابن مثنّی، دوي ته ابن عدی، هغوي ته ابن عون هغوي ته محمد، هغوي ته ابوهريرهؓ فرمايلي دي چه ابو القاسم ﷺ ددے په مثل. او ويلي دي مسلمؒ روايت کړے دے ما ته حميد بن مسعده باهلي هغۀ ته بشر هغۀ ته محمد هغۀ ته ابوهريرهؓ. ويلي دي ابوهريرهؓ چه فرمايلي دي ابوالقاسم ﷺ په مثل ددے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ قَالَ وَهِيَ سَاعَةٌ خَفِيفَةٌ

ابوهريرهؓ ويلي دي چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چه جمعه کښې يو ساعت داسې دے چه نۀ غواړي مسلمان په هغې کښې څۀ خير له. مګر الله تعالی هغۀ له ضرور ورکوي. او هغه ساعت ډير لږ دے.
مسلمؒ وائي روايت کړے ما ته ابن رافع هغۀ ته عبد الرزاق هغۀ ته معمر هغۀ ته همام ابن منبه هغۀ ته ابوهريرهؓ هغوي د نبي ﷺ نه او په دے کښې دا نۀ دي ويلي چه هغه ساعت ډير لږ دے[1].

---

[1]: د ړومبو خلق اختلاف دے چه هغه ساعت کله دے. او ددے څۀ معنی چه هغه دُعا غوښتلو والا په ولاړے مونځ کوي. غرض دا چه بعضو ويلي دي چه هغه د مازيګر نه واخله د ماښامه پورے دے. او مراد د يُصلي نه يعني د مانځۀ نه دُعا ده. ځکه چه د صلوٰة معانے د دُعا هم راغلي دي. او داودريدلو نه مراد دادے چه د دُعا سره قيام کوي يعني په دُعا کښې مشغول وي. او چا ويلي دي هغه چه د کله نه امام وتلے دے د هغه وخت نه د مانځۀ نه د اوزګاريدو پورے. او چا ويلي دي چه هغه د مانځۀ د شروع نه د هغې د ختميدو پورے دے. او هغې ته نژدے د صلوٰة نه پس مونځ مراد دے. او بعضو ويلي دي هغه هله دے چه امام په ممبر باندے کيني د مانځۀ نه د فارغ کيدو پورے. او خنو ويلي دي چه هغه آخري ګهړئ ده د جمعې د ورځې. او قاضي عياضؒ ويلي دي. او د ټولو اقوالو په مقدمه کښې آثار مروي شوي دي د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه. او بعضو ويلي دي هغه زوال ته نژدے دے. او بعضو ويلي دي د زوال نه د هغه وخته پورے دے چه سوری د يو لاس په مقدار شي. او خنو ويلي دي هغه ساعت په ټوله ورځ کښې پټ دے. او بعضو ويلي دي

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ لِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ أَسَمِعْتَ أَبَاكَ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَأْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الإِمَامُ إِلَى أَنْ تُقْضَى الصَّلاَةُ

ابوبرده وائی ما ته عبد الله بن عمر اووے. چه تا د خپل پلار نه د جمعے د ساعت په باب کښې څۀ اوریدلی دی چه هغه د رسول الله ﷺ نه څۀ بیان کړے وی؟ ما اووے. آو. ما د هغۀ نه اوریدلی دی چه هغۀ ویلی وو چه اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمایلی ئې وو. هغه وخت د هغه وخت نه دے چه امام کینی (یعنی په منبر) د مانځۀ د ختمیدو پورے.

بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ

باب: د جمعے د ورځ فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا

ابوهریره وائی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه غوره په هغه ورځو کښې چه په هغې کښې نمر راخیژی د جمعې ورځ ده. چه په دے کښې آدم پیدا شوے دے. او په دے کښې جنت ته تلے دے. او په دے کښې د هغې نه راوتلے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا وَلاَ تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ

ابوهریره ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه غوره په هغه ورځو کښې چه په هغې کښې نمر راخیژی د جمعے ورځ ده. چه په دے کښې آدم پیدا شوے دے. او په دے کښې جنت ته تلے دے. او په دے کښې د هغې نه راوتے دے. او قیامت به نۀ قائمیږی مګر د جمعے په ورځ[1].

د صبا د راختو نه د نمر د راختو پورے دے. او قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی دا مراد نۀ دے چه هغه په تولو وختونو کښې وی. مګر مراد دادے چه په دغه تولو وختونو کښې په څۀ وخت کښې وی. او صحیح بلکه ثواب دا هغه دے. کوم چه روایت کړے دے مسلم د ابوموسی د روایت نه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هغه د هغه وخت نه دے چه امام کینی (یعنی په ممبر باندے د مانځۀ د کیدو پورے)

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه. چه لوئے لوئے کارونه د جمعے په ورځ شوی دی او کیږی به خواه هغه د فضیلت وی یا نۀ وی. او دا تول بیان ئے د دے دپاره اوفرمایل چه بنده په دے کښې د نیکئ دپاره تیار شی او د الله د رحمت امیدوار شی. او ابوبکر بن العربی په کتاب احوذی شرح ترمذی کښې ویلی دی چه وتل د آدم علیه السلام د جنت نه دا هم یو فضیلت کیدے شی چه دا وتل سبب شو د هغۀ د اولاد

بَابُ هِدَايَةِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ الْآخِرُونَ وَنَحْنُ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْدَ أَنَّ كُلَّ أُمَّةٍ أُوتِيَتِ الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا وَأُوتِينَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ ثُمَّ هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِي كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْنَا هَدَانَا اللهُ لَهُ فَالنَّاسُ لَنَا فِيهِ تَبَعٌ الْيَهُودُ غَدًا وَالنَّصَارٰى بَعْدَ غَدٍ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ الْآخِرُونَ الْأَوَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَنَحْنُ أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا وَأُوتِينَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ فَاخْتَلَفُوا فَهَدَانَا اللهُ لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ فَهٰذَا يَوْمُهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ هَدَانَا اللهُ لَهُ قَالَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فَالْيَوْمَ لَنَا وَغَدًا لِلْيَهُودِ وَبَعْدَ غَدٍ لِلنَّصَارٰى

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ الْآخِرُونَ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا وَأُوتِينَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ وَهٰذَا يَوْمُهُمُ

باب : د جمعې په باره کښې امت ته هدايت

ابوهريرهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي مونږ روستي خلق يو او د قيامت په ورځ مخکښې تلو والا يو. فقط دومره خبره ده چه هر امت ته زمونږ نه مخکښې کتاب ميلاؤ دے او مونږ ته د هغوی نه روستو. بيا دا ورځ کومه چه په مونږ باندې الله فرض کړه دده ئې مونږ ته لار اوښوده. او ټول خلق په دې کښې زمونږ نه روستو دي. چه د يهودو اختر د جمعې په دويمه ورځ وی (يعنی هفته او د نصاراؤ په دريمه ورځ (يعنی د اتوار په ورځ

ابوهريرهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي . مونږ د ټولو نه روستو يو. او د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکښې کيدلو والا يو. او مونږ به په جنت کښې د ټولو نه مخکښې داخليږو. البته دومره خبره ده چه هغه خلقو ته کتاب زمونږ نه مخکښې ميلاؤ شوے دے. او مونږ ته د هغوی نه روستو. او هغوی په رښتونې خبره کښې اختلاف کړے. نو دا د جمعې ورځ هغه ده چه په دے کښې ئې اختلاف کړے دے. او مونږ ته الله تعالی لاره اوښوده. پس دا دجمعې ورځ زمونږ دپاره ده. دويمه ورځ د يهودو (يعنی هفته) دريمه ورځ د نصراؤ (يعنی اتوار)

ابوهريرهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي مونږ په دنيا کښې د ټولو امتونو نه روستو يو. او په قيامت کښې د ټولو نه مخکښې مګر دومره ده چه هغه خلقو ته کتاب زمونږ نه مخکښې ميلاؤ شوے دے. او مونږ ته د هغوی نه روستو. او دا هغه ورځ ده (يعنی جمعه) چه په هغوی فرض کړے شوے وه. او په دے کښې هغوی اختلاف

د کيدو او د انبياؤ او د رسولانو د ظاهريدو. او د قيامت کيدل سبب دے د الله د دوستانو بامراده جنت ته د تلو. او د خدائے د دښمنانو نامراده په دوزخ کښې د داخليدو. غرض دا چه دده دے حديث نه په ټولو ورځو د جمعې غوره والے ثابت شو.

الَّذِيْ فُرِضَ عَلَيْهِمْ فَاخْتَلَفُوْا فِيْهِ فَهَدَانَا اللّٰهُ لَهُ فَهُمْ لَنَا فِيْهِ تَبَعٌ فَالْيَهُوْدُ غَدًا وَالنَّصَارٰى بَعْدَ غَدٍ

اوکړو. بیا الله مونږ ته لار اوښوده او دغه خلق په دې کښې زمونږ نه روسته دي (یعنی د هغوی اختر د عبادت ورځ زمونږ د اختر نه روسته دے) نو د یهودو اختر صبا له دے او د نصاراؤ بله ورځ دے

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَ حُذَيْفَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَضَلَّ اللّٰهُ عَنِ الْجُمُعَةِ مَنْ كَانَ قَبْلَنَا فَكَانَ لِلْيَهُوْدِ يَوْمُ السَّبْتِ وَكَانَ لِلنَّصَارٰى يَوْمُ الْأَحَدِ فَجَاءَ اللّٰهُ بِنَا فَهَدَانَا اللّٰهُ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ فَجَعَلَ الْجُمُعَةَ وَالسَّبْتَ وَالْأَحَدَ وَكَذٰلِكَ هُمْ تَبَعٌ لَنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَحْنُ الْآخِرُوْنَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا وَالْأَوَّلُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَقْضِيُّ لَهُمْ قَبْلَ الْخَلَائِقِ وَفِيْ رِوَايَةٍ وَاصِلِ الْمَقْضِيِّ بَيْنَهُمْ

ابوهریره او حذیفه دواړو ویلي دي چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه الله تعالی هیره کړه جمعې لره د هغه خلقو دپاره چه زمونږ نه مخکښې وو. نو د یهودو اختر د هفتې او د نصراؤ د اتوار په ورځ شو او الله تعالی زمونږ سره راغے او مونږ ته ئے لار اوښوده د جمعې د ورځې. غرض د جمعې او هفتې او اتوار د اختر د ورځو دا ترتیب شو او دغه شان به هغه خلق زمونږ نه روستو وي د قیامت په ورځ. او مونږ په دنیا کښې د ټولو نه روستو یو. او په قیامت کښې د ټولو نه مخکښې به زمونږ فیصله کیږي. او په یو روایت کښې دا لفظ دے الْمَقْضِيُّ بَيْنَهُمْ (یعنی د هغوی فیصله به کولې شي)

مسلم ویلي دي چه روایت کړے دے مونږ ته ابوکریب هغۀ ته ابن ابی الزائده هغۀ ته سعد هغۀ ته ربعی بن خراش هغۀ ته حذیفه چه فرمایلي دي رسول الله ﷺ چه مونږ ته ئے لار اوښودله د جمعې نورو خلقو لره ئے هیر کړل چه زمونږ نه مخکښې وو او ټول روایت ئے په مثل د ابن فُضیل بیان کړو (یعنی کوم چه ذکر شو)

بَابُ فَضْلِ التَّهْجِيْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب : د جمعې مونځ ته په جلتئ د تلو فضیلت

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ كَانَ عَلٰى كُلِّ بَابٍ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ مَلَائِكَةٌ يَكْتُبُوْنَ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ فَإِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ طَوَوْا

ابوهریره وائي چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي کله چه د جمعې ورځ شي نو په هره دروازه باندې د جماعت د دروازو نه فرښتې لیکل کوي چه فلانے د ټولو نه مخکښې راغے. د هغۀ نه پس هغه، د هغۀ نه پس هغه، بیا چه کله امام په ممبر کیني نو فرښتې عمل نامې اونغاړي او راشي خطبه اوري او څوک چه اول راغے د هغۀ د ثواب مثال داسې دے لکه

الصُّحُفَ وَجَاءُوا يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي الْبَدَنَةَ ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي بَقَرَةً ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي الْكَبْشَ ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي الدَّجَاجَةَ ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي الْبَيْضَةَ

څوک چه یو اوښ قرباني کړي. د هغۀ نه پس چه څوک راغې هغه داسې دے لکه چه یوه غوا قرباني کړي. د هغۀ نه پس چه څوک راغې هغه داسې دے لکه چه یو ګډ قرباني کړي. د هغۀ نه پس چه څوک راغې هغه داسې دے چه لکه یو چرګ قرباني کړي. د هغۀ نه روستو څوک راشي هغه داسې دے لکه چه یوه انډه د خدائے په نوم ورکړي.

مسلمؒ وېلي دي. روایت کړے دے موږ ته یحیٰی بن یحیٰی او عمر ناقد د سفیان نه هغوی د زهري نه هغوی د سعید نه هغوی د ابوهریرهؓ نه هغوی د رسول اللهﷺ نه په مثل دد ے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَلَى كُلِّ بَابٍ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ مَلَكٌ يَكْتُبُ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ مَثَّلَ الْجَزُورَ ثُمَّ نَزَّلَهُمْ حَتَّى صَغَّرَ إِلَى مَثَلِ الْبَيْضَةِ فَإِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ طُوِيَتِ الصُّحُفُ وَحَضَرُوا الذِّكْرَ

ابوهریرهؓ وېلي دي چه رسول اللهﷺ فرمایلي دي. د جماعت په هره دروازه یوه فرښته وي چه هغه د ټولو نه مخکښې چه څوک راشي هغۀ لره داسې لیکي لکه چه څوک اوښ قرباني کړي. بیا درجه په درجه چه څوک روستو راځي هغوی لره کمولے شي. تر دے پورے چه د هغۀ په مثل لیکي لکه چا چه یوه انډه د خدائے په لار کښې ورکړه. بیا چه کله امام په ممبر کیني. نو عمل نامې اونغښتلے شي او د هر دروازے فرښتے راشي او د خطبې په اورېدلو کښې مشغوله شي.

بَابُ فَضْلِ مَنِ اسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ فِي الْخُطْبَةِ

باب : د جمعې د خطبې په وخت کښې د خاموشۍ د ثواب فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اغْتَسَلَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلَّى مَا قُدِّرَ لَهُ ثُمَّ أَنْصَتَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ ثُمَّ يُصَلِّي مَعَهُ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ

ابوهریرهؓ د نبي کریمﷺ نه روایت کړے دے چه چا غسل اوکړو او د جمعې مانځۀ له راغې او څومره چه ئې په تقدیر کښې وو مونځ ئې اوکړو. او د خطبې نه د فارغ کیدو پورے چپ پاتے شو. بیائے د امام سره مونځ ادا کړو. د هغۀ ګناهونه اوبخښلے شي دد ے جمعې

الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ	نه د تیرے جمعے پورے. او د درے ورځو نور زیات[1]
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا	ابوهریره ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه څوک اودس اوکړی او ښهٔ اودس اوکړی. بیا جمعے له راشی. او د جمعے په اوریدو کښې چُپ پاتے شی. د هغهٔ د هغے جمعے نه د بلے جمعے پورے ګناهونه اوبخښلے شی. او د درے ورځو نور زیات. او چا چه د ګیټو سره لوبے اوکړے هغه بے فائدے کار اوکړو.
بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ حِينَ نُزُولِ الشَّمْسِ	باب: د جمعے مونځ هغه وخت چه کلمه نمر زائل شی
عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَرْجِعُ فَنُرِيحُ نَوَاضِحَنَا قَالَ حَسَنٌ فَقُلْتُ لِجَعْفَرٍ فِي أَيِّ سَاعَةٍ تِلْكَ قَالَ زَوَالَ الشَّمْسِ	د عبد الله څوئی جابر ویلی دی چه مونږ مونځ کوو د رسول الله ﷺ سره (یعنی د جمعے) بیا به واپس شو ارام به مو ورکوو د خپلو اوبو راوړونکو اوښانو لره. حسن جعفر ته اووے. چه هغه وخت به څهٔ وخت وو؟ هغوی اووے. چه د نمر د زوال وخت.
عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَأَلَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ مَتَى كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ قَالَ كَانَ يُصَلِّي ثُمَّ نَذْهَبُ إِلَى جِمَالِنَا فَنُرِيحُهَا زَادَ عَبْدُ اللهِ فِي حَدِيثِهِ حِينَ تَزُولُ الشَّمْسُ يَعْنِي النَّوَاضِحَ	جعفر د خپل پلار نه روایت کړے دے. چه هغوی د جابر بن عبد الله نه تپوس اوکړو. چه رسول الله ﷺ به د جمعے مونځ څهٔ وخت کولو؟ هغوی اووے. کله چه به هغوی مونځ اوکړو. بیا به مونږ تلو او خپلو اوښانو ته به مو آرام ورکولو. عبد الله په خپل روایت کښې دا خبره زیاته کړه. کله چه نمر زوال اوشی. یعنی اوبو راوړلو والا اوښ.
عَنْ سَهْلٍ قَالَ مَا كُنَّا نَقِيلُ وَلَا نَتَغَدَّى إِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ زَادَ ابْنُ حُجْرٍ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	سهل ویلی دی چه مونږ به د غرمے نهٔ اودهٔ کیدو. او نهٔ به مو د غرمے غله خوړله مګر د جمعے د مانځهٔ نه پس. ابن حجر په خپل روایت کښې دا خبره زیاته کړه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې.
عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا	ایاس بن سلمه بن اکوع د خپل پلار نه روایت کړے دے چه هغوی ویلی دی مونږ به جمعه کوله د رسول الله ﷺ سره کله چه به نمر زوال اوکړو. بیا

[1]: د دے نه معلومه شوه چه د خطبے نه پس او د نیت ترلو نه مخکښې ضروری خبره کول روا دی. او د خطبے نه مخکښې نوافل مستحب دی. او دغه مذهب دے د شافعیو او جمهورو. او د خطبے په وخت چُپ پاتے کیدل واجب دی. او د غسل فضیلت هم معلوم شو.

زَالَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ نَرْجِعُ نَتَتَبَّعُ الْفَيْءَ

به د سُوری په تلاش کښې واپس شو یعنې د دیوالونو سورے به لانه وو.

عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُمُعَةَ فَنَرْجِعُ وَمَا نَجِدُ لِلْحِيطَانِ فَيْئًا نَسْتَظِلُّ بِهِ

ایاس بن سلمهؓ بن اکوع د خپل پلار نه روایت کړے دے. هغوی ویلی دی چه مونږ به مونځ کولو د رسول اللهﷺ سره او کله چه به واپس کیدو (یعنې روستو د جمعے د مانځهٔ نه) نو د دیوالونو سُورے به مونږ نهٔ موندلو چه د هغې په سُوری راغلی وے[1].

بَابُ ذِكْرِ الْخُطْبَتَيْنِ قَبْلَ الصَّلٰوةِ وَمَا فِيهِمَا مِنَ الْجَلْسَةِ

باب: د جمعے د مانځهٔ نه مخکښې دوه خطبے او د دے دواړو مینځ کښې کیناستل

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ يَقُومُ قَالَ كَمَا يَفْعَلُونَ الْيَوْمَ

عبد الله بن عمرؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ به په ولاړے خطبه لوستله بیا به کیناستو. بیا به اودریدو لکه چه تاسو نن صبا کوئ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَتَانِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ

جابر بن سمرهؓ ویلی دی. چه نبی کریمﷺ به همیشه دوه خطبے لوستلے او د هغې په مینځ کښې به کیناستهٔ او په خطبو کښې به ئے قرآن شریف لوستهٔ او خلقو ته به ئے نصیحت کوو

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

جابر بن عبد اللهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ به خطبه په ولاړے

---

[1] د دے ټولو روایتونو نه د جمعے په جلتئ کښې کول ثابتیږی. مگر امام مالک او ابوحنیفه او شافعی رحمهم الله او جمهور علماؤ د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله نه دا مذهب دے. چه جمعه روا نهٔ ده مگر روستو د زوال نه او د دے خلاف چا نهٔ دے کړے مگر امام احمد او اسحاق رحمهم الله چه د دے دواړو په نز مخکښې د زوال نه جائز دے. او اگر چه نووی رحمه الله په دے مقام کښې د شافعیو وغیره تائید کړے دے. مگر د امام احمد رحمه الله مذهب هم د دلائل صحیحه نه خالی نهٔ دے اگر چه جمهور د ټولو تاویل کوی او د تادئ په مبالغه هغه روایتونو لره غورخوی او وائی چه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به د سحر خوړل او د غرمے اوده کیدل روستو د جمعے د مانځهٔ نه کول او دغه ورځ ئے په هغه ورځو کښې ناوخته کوو ځکه چه هغه به په اول وخت راتلو لهٰذا به هغه کارونو کښې به ئے ناوخته کوو چه شاید تکبیر اولی یا خطبه لاړه نهٔ شی. او دا چه کوم مروی دے چه مونږ به سورے تلاش کوو او نهٔ به موندو. ددی په تاویل کښې وائی. چه جمعه به په اول وخت کیدله او د کورونو دیوالونه واړه وو ځکه سورے نمیلاویدو او کیدے شی چه سورے لږ شان وو مگر د بنده پوره قد پټولو ته نهٔ پوره کیدو. او اوبنانو ته د آرام ورکولو نه دا مراد دے چه هغه به ئے کاره سنغ کړل او دانه کیاه به ئے ورته ورکوله. یا به ئے خریدو ته پریخودل چه د سحر د کار نه دمه شی

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا فَمَنْ نَبَّأَكَ أَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ فَقَدْ وَاللهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفَيْ صَلَاةٍ

لوستله بیا به کیناستو او بیا به اودریدو په ولاړے ولاړے به ئے لوستله او چا چه تاته اووے چه په ناستے به ئے لوستله هغه په خدائے قسم دروغ اووے. ما د هغهٔ سره د دوو زرو نه زیات مونځونه کړی دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَجَاءَتْ عِيرٌ مِنَ الشَّامِ فَانْفَتَلَ النَّاسُ إِلَيْهَا حَتَّى لَمْ يَبْقَ إِلَّا اثْنَا عَشَرَ رَجُلًا فَأُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ الَّتِي فِي الْجُمُعَةِ وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا

جابرؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ به په ولاړے خطبه لوستله د جمعے په ورځ ، پس یوځل یو قافله راغله د شام د ملک نه (غله ئے راوړه) نو خلقو په هغے پسے منډے کړے صرف دولس سړی د هغهٔ سره پاتے شو. په دے باندے دا ایت نازل شو چه په سورهٔ جمعه کښں دے. چه کله اووینی تجارت یا څهٔ د لوبے څیز نو منډے کړی د هغے په طرف . او تاله ولاړ پریږدی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَدِمَتْ سُوَيْقَةٌ قَالَ فَخَرَجَ النَّاسُ إِلَيْهَا فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا اثْنَا عَشَرَ رَجُلًا أَنَا فِيهِمْ قَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا إِلَى آخِرِ الْآيَةِ

جابرؓ ویلی دی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو د جمعے په ورځ . نو یوه قافله راغله او خلق د جماعت نه اووتل. او دولس سړی پاتے شو. چه زهٔ هم په هغے کښں وم. بیا الله دا ایت راولیږهٔ. او کله چه اووینی سوداګری یا لوبے نو د هغے په طرف منډے وهی. او تاله ولاړ پریږدی[1]

عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ ابْنُ أُمِّ الْحَكَمِ يَخْطُبُ

کعب بن عجرهؓ په جماعت کښں داخل شو. او د أم حکم ځوئ عبد الرحمٰن په ناستے ناستے خطبه ویله. نو هغوی اووے. دے خبیث

---

[1] ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه خطبه په ولاړے لوستل مسنون دی. او په مینځ کښں ئے کیناستل هم سنت دی. او دغه مذهب دے د شافعیو چه سره د طاقت لرلو د قیام په ناستے لوستل صحیح نهٔ دی. او معلومه شوه چه په جمعه کښں دوه خطبے لوستل ضروری دی او د حسن بصری رحمه الله او د اهل ظاهرو وغیره مذهب دے چه د خطبے نه بغیر هم جمعه صحیح ده. او ابن عبد البر رحمه الله په ولاړے خطبه لوستلو باندے اجماع نقل کړے ده. او ابوحنیفه رحمه الله ویلی دی چه په ناستے لوستل هم روا دی. او اودریدل واجب نهٔ دی او د ابوحنیفه او مالک رحمهما الله او د جمهورو په نز کیناستل د دواړو خطبو په مینځ کښں سنت دی واجب نهٔ دی او د امام شافعی رحمه الله په نز فرض دی. او شرط دے صحت د خطبے دپاره. طحاوی ویلی دی چه دا امر سوا د شافعی رحمه الله نه بل چا نهٔ دے ویلے او د شافعی رحمه الله دلیل دادے چه دغه شان ثابته شوے د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه. او هغهٔ فرمایلی دی چه مونځ په دے شان ادا کوئ لکه څنګه چه ما په ادا کولو وینئ او خطبه هم په مثل د مانځهٔ ده. (نووی رحمه الله)

قَاعِدًا فَقَالَ انْظُرُوا إِلَى هٰذَا الْخَبِيثِ يَخْطُبُ قَاعِدًا وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالَى وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا

ته اوګوره چه په ناستې خطبه لولي. او الله تعالى فرمائي. او هر کله چه ويني څۀ تجارت يا لوبې لره. نو د هغې په طرف منډې وهي. او تا لره ولاړ پريږدي.

بَابُ تَغْلِيظٍ فِي تَرْكِ الْجُمُعَةِ

باب: د جمعې د پريخودو وعيد

عَنِ الْحَكَمِ بْنِ مِينَاءَ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ وَأَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَاهُ أَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللّٰهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ

د حکم بن ميناء ته عبد الله بن عمرؓ او ابوهريرهؓ بيان کړے دے. چه هغوی د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی. چه فرمايلی دی ئې وو د خپل منبر په لرګو باندے چه خلق د جمعې د پريخودو نه راواوړی. کۀ نۀ وی نو الله تعالى به د هغوی په زړونو باندے مُهر اولګوی. چه هغه به د غافلانو نه شی[1].

بَابُ تَخْفِيفِ الصَّلٰوةِ وَالْخُطْبَةِ

باب: مونځ او خطبه مختصر کول

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا

جابر بن سمرهؓ ويلی دی چه ما د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نو د هغۀ مونځ او خطبه درميانه درميانه وه (يعنی نۀ ډيره اوږده او نۀ ډيره لنډه به وه).

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ وَعَلَا صَوْتُهُ وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ حَتّٰى كَأَنَّهُ مُنْذِرُ جَيْشٍ يَقُولُ صَبَّحَكُمْ وَمَسَّاكُمْ وَيَقُولُ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ وَيَقْرُنُ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى وَيَقُولُ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللّٰهِ وَخَيْرَ الْهُدٰى هُدَى مُحَمَّدٍ وَشَرُّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا

جابر بن عبد اللهؓ ويلی دی چه رسول الله ﷺ چه به کله خطبه لوستله نو د هغۀ سترګې به سرې شوې او آواز به ئې اوچت شو. او غصه به ئې زياته شوه. لکه چه هغه د يو داسې لښکر نه يريدلو والاوو چه سحر ما ښام راتلو. او فرمايلی ئې وو چه زۀ او قيامت داسې رااليږلی يو. او خپله د کلمې او د مينځ ګوته به ئې ميلاؤ کړه او ويل به ئې چه د خدائے د حمد نه پس پوهه شه چه د هرې خبرې نه غوره د الله کتاب دے. او د هر چال نه غوره د محمد چال دے. او د ټولو کارونو نه بد نوے کار دے په دين کښې. او هر نوے کار ګمراهی ده. بيائې او فرمايل چه زۀ د هر مؤمن

[1] : يعنی د هغۀ نه لطف او رحمت لره لرې کړی او هغه باب خير لره ترنۀ واړوی. دغه قول دے د اکثرو متکلمينو.

وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِأَهْلِهِ وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَإِلَيَّ وَعَلَيَّ

دوست يم د هغهٔ د روح نه زيات ده بيا چه کوم مؤمن مړ شي د هغهٔ مال پاتې شي هغه د هغهٔ د کور والا دے. او چه کوم قرض يا بچي پاتې شي. د هغې پرورش ځما په طرف دے. او د هغوی خرچ په ما باندې دے[1].

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ كَانَتْ خُطْبَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ يَحْمَدُ اللهَ وَيُثْنِي عَلَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ عَلَى إِثْرِ ذٰلِكَ وَقَدْ عَلَا صَوْتُهُ ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ

جعفر بن محمد د خپل پلار نه او هغهٔ د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت کوی چه د جمعې په ورځ د نبی کريم ﷺ خطبه دا وه چه د الله تعالى حمد او ثنا ئې اوکړه. او بيا ئې د هغې نه پس په اوچت آواز سره اوفرمايل. او د پورته روايت په مثل حديث ئې بيان کړو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ يَحْمَدُ اللهَ وَيُثْنِي عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ يَقُولُ مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَخَيْرُ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ الثَّقَفِيِّ

جابرؓ وايي دی چه رسول الله ﷺ خطبه لوستله په خلقو باندې او په هغې لفظونو سره ئې د هغهٔ حمد او ثنا کوله چه د هغهٔ د دربار لايق دی. بيا به ئې فرمايل. چا ته چه الله تعالى لار اوښائی هغه لره څوک ګمراه کولو والانشته او د ټولو خبرو نه ښهٔ د الله کتاب دے. بيا ئې بيان کړو حديث لره په مثل د حديث ثقفي. يعنى چه پورته تير شو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ ضِمَادًا قَدِمَ مَكَّةَ وَكَانَ مِنْ أَزْدِ شَنُوءَةَ وَكَانَ يَرْقِي مِنْ هٰذِهِ الرِّيحِ فَسَمِعَ سُفَهَاءَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يَقُولُونَ إِنَّ مُحَمَّدًا مَجْنُونٌ فَقَالَ لَوْ أَنِّي رَأَيْتُ هٰذَا الرَّجُلَ لَعَلَّ اللهَ يَشْفِيهِ

د عبد الله بن عباسؓ نه روايت دے چه ضماد مکې ته راغې (ضماد د يو سړی نوم دے) او هغه د ازدشنوده د قبيلې نه وو. او پيريانو ديوانو وغيره لره به ئې لرې کول نو د مکې د کم عقلانو نه ئې واوريدل چه محمد (ﷺ) مجنون دے. (د الله تعالى پناه) نو هغه اووې. لږ زهٔ هغهٔ لره وينم. کيدے شي چه الله تعالى ځما په لاس سره هغهٔ لره ښهٔ کړی.

---

[1] : په دے حديث کښ څو فائدے دی. اول آداب د خطبې د لوستونکی. چه آواز به اوچتوی او د خدائے تعالى بنديګان به يره وی. دويم قُربِ قيامت. دريم د أمّا بعد لفظ دا په خطبو کښ ويلی مسنون دی. څلورم د بدعت بدوالے. پنځم د بدعت د تقسيم باطليدل. شپږم محدَثات يعنی د نوو کارونو بدوالے خواه کهٔ په عبادت کښ وی يا په عاداتو کښ. اووم د حضرت ﷺ شفقت په مؤمنانو باندے. چه د زرګونو پلار مور نه مخکښ دے. اتم دا چه د اسلام په شروع کښ د هغهٔ عادت وو چه څوک به مړ شو او قرضه به ئې پريخوده او څهٔ مال به د هغې د ورکولو برابر پاتې نهٔ وو. نو هغهٔ صلعم به په هغه د جنازے مونځ نهٔ کولو. بيا چه کله ملک فتح شو. نو هغهٔ صلعم دا حکم ورکړو کوم چه په حديث کښ ذکر شو.

عَلَى يَدَيَّ قَالَ فَلَقِيَهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي أَرْقِي مِنْ هَذِهِ الرِّيحِ وَإِنَّ اللهَ يَشْفِي عَلَى يَدِي مَنْ شَاءَ فَهَلْ لَكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَمَّا بَعْدُ قَالَ فَقَالَ أَعِدْ عَلَيَّ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ فَأَعَادَهُنَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ فَقَالَ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ وَقَوْلَ السَّحَرَةِ وَقَوْلَ الشُّعَرَاءِ فَمَا سَمِعْتُ مِثْلَ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ وَلَقَدْ بَلَغْنَ نَاعُوسَ الْبَحْرِ قَالَ فَقَالَ هَاتِ يَدَكَ أُبَايِعْكَ عَلَى الْإِسْلَامِ قَالَ فَبَايَعَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى قَوْمِكَ قَالَ وَعَلَى قَوْمِي قَالَ فَبَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً فَمَرُّوا بِقَوْمِهِ فَقَالَ صَاحِبُ السَّرِيَّةِ لِلْجَيْشِ هَلْ أَصَبْتُمْ مِنْ هَؤُلَاءِ شَيْئًا فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَصَبْتُ مِنْهُمْ مِطْهَرَةً فَقَالَ رُدُّوهَا فَإِنَّ هَؤُلَاءِ قَوْمُ

غرض دا چه د هغهٔ سره ميلاؤ شو او دائے اووے. اے محمد! (ﷺ) زهٔ ليونتوب وغيره لره دَم وم. او الله تعالى خما په لاس سره چه چاله اوغواړي شفا ورکوي. نو ستا څهٔ خواهش دے؟ نو حضرت ﷺ د إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نه د أَمَّا بَعْدُ پورے. يعنى تول صفتونه الله لره دى زهٔ د هغهٔ صفتونه بيانوم او د هغهٔ نه مدد غواړم. چا لره چه الله تعالى لار اوښائى هغه به څوک بے لارے کړى. او څوک چه الله پاک بے لارے کړى هغه به څوک په لار کړى. او زهٔ ګواهي ورکوم چه څوک لائق د عبادت نشته سوا د الله نه هغه يو دے د هغهٔ سره څوک شريک نشته او محمد ﷺ د هغهٔ بنده او رالېږلے شوے دے. اوس د حمد نه پس چه څهٔ وائے وايه ضماد اووے. تهٔ بيا اووايه دے کلماتو لره (الحمد لله چه په ضماد باندے د ايمان رنګ اوختو) غرض دا چه رسول الله ﷺ هغے لره درے خله اولوستو. بيا ضماد اووے. روره! ما د کاهنانو خبرے اوريدلى دى د جادوګرو اقوال مے اوريدلى دى. د شاعرانو اقوال مے اوريدلى دى. مګر د دے کلماتو برابر ما د چا نهٔ دى اوريدلى. او دا خو د بلاغت د درياب د وېخه پورے رسيدلى دى. بيا ضماد اووے چه خپل لاس را ديخوا کړه چه زهٔ د اسلام بيعت اوکړم. غرض دا چه هغوى بيعت اوکړو. او رسول الله ﷺ ورته اوفرمايل. زهٔ ستا نه او ستاسو د قوم (د طرفنه) بيعت اخلم هغوى عرض اوکړو. چه آو. زهٔ د خپل قوم د طرفنه هم بيعت کوم. آخر رسول الله ﷺ يو لښکر اوليږو. او هغه لښکر (د ضماد) په قوم باندے تير شو. نو د دے لښکر سردار اووے. چه تاسو د دے قوم نه خو څهٔ لوټ کړى نهٔ دى. بيا يو سړى اووے. چه آو ما يوه لوټه د هغوى نه اخستے ده. نو هغوى حکم اوکړو. چه لاړ شه دا هغوى ته واپس کړه ځکه چه دا د ضماد قوم دے (او هغه

ضِمَادٍ

د ضماد د بیعت په سبب په امان کښې راغلی دی.

عَنْ وَاصِلِ بْنِ حَيَّانَ قَالَ قَالَ أَبُو وَائِلٍ خَطَبَنَا عَمَّارٌ فَأَوْجَزَ وَأَبْلَغَ فَلَمَّا نَزَلَ قُلْنَا يَا أَبَا الْيَقْظَانِ لَقَدْ أَبْلَغْتَ وَأَوْجَزْتَ فَلَوْ كُنْتَ تَنَفَّسْتَ فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ طُولَ صَلَاةِ الرَّجُلِ وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا

واصل بن حیان ویلی دی چه ابووائل وائی چه خطبه اولوسته په مونږ عمار او ډیره لنډه او ډیره بلیغ ئې اولوسته بیا چه کله هغه د ممبر نه راکوز شو نو مونږ اووے. اے ابوالیقظان! تاخو ډیره مختصر خطبه او زیاته بلیغه اولوستله که چرے تا لږه دا خطبه اوږده کولے نو زیاته به غوره وه. بیا عمار اووے. چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. چه فرمایلی ئې وو. چه د بنده مونځ اوږدول او خطبه لنډول د هغۀ د پوهے نخښه ده. نو بیا تۀ مونځ اوږده وه او خطبے لږه لنډه لوله او بعضے بیان جادو وی (یعنی د جادو په شان تاثیر لری).

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ أَنَّ رَجُلًا خَطَبَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَقَدْ غَوَى فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ الْخَطِيبُ أَنْتَ قُلْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ فَقَدْ غَوِيَ

عدی بن حاتم ویلی دی چه یو سړی د رسول الله ﷺ په خواه کښې خطبه اولوسته او هغۀ اووے مَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَقَدْ غَوَى (یعنی چا چه تابعداری اوکړه د الله او د هغۀ د رسول هغه لار اوموندله. او چا چه د دغه دواړو نافرمانی اوکړه هغه ګمراه شو) نو رسول الله ﷺ اوفرمایل. تۀ څۀ بد خطیب ئې. داسے وایه وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ابن نمیر په خپل روایت کښې ویلی دی فَقَدْ غَوِيَ[1]

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ

صفوان بن یعلی د خپل پلار رضی الله عنه نه روایت کړے دے. چه هغوی د نبی کریم ﷺ نه اوریدلی دی. چه په ممبر باندے ئې لوستلی وو. وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ[2].

عَنْ أُخْتٍ لِعَمْرَةَ قَالَتْ أَخَذْتُ ق وَالْقُرْآنِ

د عمره خور ویلی دی چه ما سورة ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ د رسول

[1] د وَمَنْ يَعْصِهِمَا الفاظو لره هغۀ ځکه غوره نه کړل چه په دے کښې ضمیر چه کوم دے د هغے نه د الله او د هغۀ د رسول صلعم برابری معلومیږی. او مخکښې ذکر کول د الله د نوم چه د برکت موجب دے فوت کیږی. او وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لره ئې ددے دپاره غوره کړو.

[2] ددے حدیث نه په خطبه کښې قرآن لوستل ثابت شو. او ددے په مشروع کیدو کښې اتفاق دے. په وجوب کښې اختلاف او د شافعیو په نزد څۀ قرآن لوستل واجب دی اګر که یو آیت وی.

الْمَجِيدِ مِنْ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهُوَ يَقْرَأُ بِهَا عَلَى الْمِنْبَرِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ

الله ﷺ د ژبې مبارکې نه اوریدلې یاد کړې دې. چه هغه به د هرې جمعې په خطبه کښې په ممبر باندې لوستلو.

عَنْ بِنْتِ الْحَارِثَةِ بْنِ النُّعْمَانِ قَالَتْ مَا حَفِظْتُ قَ إِلَّا مِنْ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ بِهَا كُلَّ جُمُعَةٍ قَالَتْ وَكَانَ تَنُّورُنَا وَتَنُّورُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدًا

د حارثه لور ویلی دی چه نۀ دې یاد کړې ما سورۀ قٓ مګر د رسول الله ﷺ د خلې مبارکې نه م اوریدلې دې چه هغه به دی لره د هرې جمعې په ورځ لوستلو او زمونږ او د رسول الله ﷺ تنور یو وو (دائې رسول الله ﷺ ته خپل نژدیکت بیان کړو. سبحٰن الله! څومره خوش نصیبه خلق وو. کاش دا فقیر د هغې تنور خادم وے)

عَنْ أُمِّ هِشَامٍ بِنْتِ حَارِثَةَ بْنِ النُّعْمَانِ قَالَتْ لَقَدْ كَانَ تَنُّورُنَا وَتَنُّورُ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَاحِدًا سَنَتَيْنِ أَوْ سَنَةً وَبَعْضَ سَنَةٍ وَمَا أَخَذْتُ قَ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ إِلَّا عَنْ لِسَانِ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَقْرَؤُهَا كُلَّ يَوْمِ جُمُعَةٍ عَلَى الْمِنْبَرِ إِذَا خَطَبَ النَّاسَ

اُمِّ هشام بنت حارثه بن نعمان ویلی دی. چه زمونږ او د رسول الله ﷺ تنور یو وو. دوه کاله یا یو کال او څۀ میاشتې. او نۀ دې ایزده کړې ما سورۀ قٓ لره مګر د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه چه هغۀ به دې لره د هرې جمعې په ورځ په ممبر باندې لوستۀ کله چه به ئې خلقو ته خطبه ورکوله

عَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُؤَيْبَةَ قَالَ رَأَى بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ عَلَى الْمِنْبَرِ رَافِعًا يَدَيْهِ فَقَالَ قَبَّحَ اللهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ بِيَدِهِ هٰكَذَا وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ

عمّاره بن رویبه بشر لره د مروان خوئې اولیدۀ. چه په منبر باندې دواړه لاسونه اوچت کړی دی (یعنی د دُعا دپاره) نو اوئې ویل. چه الله دِ خراب کړی هغه دواړو لاسونو لره. ما خو رسول الله ﷺ لره لیدلې دې چه ددې نه زیات به ئې نۀ کولو. او اشاره ئې اوکړه د خپلې کلمې په ګوته سره[1].

بَابُ التحيات والامام يَخْطُبُ

باب: تحیة المسجد کول په وخت د خطبه کښې

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ ﷺ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ أَصَلَّيْتَ يَا فُلَانُ قَالَ لَا قَالَ قُمْ

جابرؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ د جمعې خطبه لوستله چه یو سړې راغې. هغۀ تپوس اوکړو. تا مونځ کړې دې؟ هغۀ اووې. نه دې کړې. حضرتؐ اووې. پاسه دوه رکعته

---

[1]: ددې حدیث نه معلومه شوه. چه په خطبه کښې ددُعا دپاره لاس اوچتول بدعت دې. او روا نۀ دی. او د مالک رحمه الله او د اصحاب شافعیه او د فقهاؤ دغه مذهب دې.

فَارْكَعْ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ دَخَلَ رَجُلٌ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ أَصَلَّيْتَ قَالَ لَا قَالَ قُمْ فَصَلِّ الرَّكْعَتَيْنِ وَفِي رِوَايَةِ قُتَيْبَةَ قَالَ صَلِّ رَكْعَتَيْنِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ فَقَالَ إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَقَدْ خَرَجَ الْإِمَامُ فَلْيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ

عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ قَالَ جَاءَ سُلَيْكٌ الْغَطَفَانِيُّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَعَدَ سُلَيْكٌ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ أَرَكَعْتَ رَكْعَتَيْنِ قَالَ لَا قَالَ قُمْ فَارْكَعْهُمَا

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ جَاءَ سُلَيْكٌ الْغَطَفَانِيُّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ يَخْطُبُ فَجَلَسَ فَقَالَ لَهُ يَا سُلَيْكُ قُمْ فَارْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَتَجَوَّزْ فِيهِمَا ثُمَّ قَالَ إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا

اوکړه[1].

جابرؓ وايي دي يو سړے جماعت ته راغے او رسول الله ﷺ د جمعے خطبه لوستله حضرتؐ اوفرمايل تا مونځ کړے دے؟ هغهٔ اووے نه حضرتؐ اوفرمايل. پاسه ا ودوه رکعته اوکه او د قتيبه په يو روايت کښې دي دوه رکعته اوکړه.

جابرؓ وايي دي چه نبي کريم ﷺ په خطبه کښې اوفرمايل چه هر کله څوک راشي او امام د خطبے لوستلو دپاره د صف نه وتلے وي نو دوه رکعته د اوکړي.

جابر بن عبد اللهؓ وايي دي. سُليک غطفانيؓ د جمعے په ورځ راغے. او رسول الله ﷺ په ممبر باندے ناست وو. او سُليکؓ کيناستو. مونځ ئے ادا نهٔ کړو. حضرتؐ ورته اوفرمايل. تا دوه رکعته مونځ اوکړو؟ هغوی اووے نه حضرتؐ اوفرمايل. پاسه او هغے لره اوکړه.

جابر بن عبد اللهؓ وايي دي د جمعے په ورځ سليک راغے او رسول الله ﷺ خطبه لوستله او هغه راغے کيناستو. حضرتؐ اوفرمايل اے سُليک پاسه او دوه رکعته ادا کړه. او مختصر ئے ادا کړه. بيائے اوفرمايل کله چه ستاسو نه يو سړے راشي د جمعے په ورځ. او امام خطبه لولي نو ضروري ده چه دوه رکعته مختصر ادا کړي[2].

---

[1] دغه مذهب دے د شافعي او احمد او د اسحق رحمهم الله او د فقهائے محدثينو. چه کله جماعت ته راشئ او امام خطبه لولي نو دوه رکعته ادا کول مستحب دي. او لنډ به ئے ادا کوئ د هغے نه پس به په خطبه اوريدو کښې مشغول شئ. او د دے نه بغير په جماعت کښې کيناستل مکروه دي مګر بعضے جاهلان مخکښې کيني بيا پاسي ادا کوي ئے. او بعضے جاهلان رومبئ خطبه واوري او په دويمه خطبه کښې اودريږي نو ادا کوي ئے. دا خدائے خبر چه چا دوي ته خودلي دي. او د ابوحنيفه رحمه الله وغيره مذهب دے چه د خطبے په وخت به نهٔ ادا کوي.

مسلم رحمه الله وايي دي. روايت کړے دے ماته ابوبکر بن شيبه او يعقوب دورقي د ابن عليه نه او هغهٔ د ايوب نه هغهٔ د عمرو نه هغهٔ د جابر رضي الله عنه نه هغوی د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه لکه چه حمّاد وايي دي. مګر د دوه رکعته ذکر ئے نهٔ دے کړے.

[2] مترجم لره بغض ابوحنيفه روند کړے دے. خاپيرک کله چرے نمر نهٔ ويني نو د نمر څهٔ قصور؟ د امام ابوحنيفه د قابليت اقرار تول مجتهدين او محدثين کوي. عارف

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ قَالَ قَالَ أَبُو رِفَاعَةَ انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ رَجُلٌ غَرِيبٌ جَاءَ يَسْأَلُ عَنْ دِينِهِ لَا يَدْرِي مَا دِينُهُ قَالَ فَأَقْبَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَرَكَ خُطْبَتَهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَيَّ فَأُتِيَ بِكُرْسِيٍّ حَسِبْتُ قَوَائِمَهُ حَدِيدًا قَالَ فَقَعَدَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعَلَ يُعَلِّمُنِي مِمَّا عَلَّمَهُ اللهُ ثُمَّ أَتَى خُطْبَتَهُ فَأَتَمَّ آخِرَهَا

حمید بن هلال ویلي دي ابو رفاعه د رسول الله ﷺ حواله راغې او هغهٔ حطبه لوستله. هغوی ویلي دي چه ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! یو سړے غریب (مسافر) په خپل دین کښې د تپوس کولو دپاره راغلے دے. نهٔ پوهیږي. چه د هغهٔ دین څهٔ دے. بیا هغهٔ ما ته مخ راواړو واو خپله خطبه ئې پریخوده او خما خواله راغې او یوه کرسئ ئې راوړه. څما خیال وو چه د هغې خپې د اوسپنې وے. هغوی په هغې باندے کیناستل (معلومه شوه چه په کرسئ باندے کیناستل منع نهٔ دی) او ما ته ئې اوښودلو هغه څهٔ چه الله پاک هغهٔ ته ښودلي و. بیا هغه راغې او خطبه ئې ختمه کړه (دا کمال د اخلاقو وو او معلومه شوه چه ضروري خبره په خطبه کښې روا ده)

بَابُ مَا يَقْرَأُ فِي صَلَوةِ الْجُمُعَةِ

باب: د جمعې مونځ کښې به کوم سورة لولي

عَنِ ابْنِ أَبِي رَافِعٍ قَالَ اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَلَى الْمَدِينَةِ وَخَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى لَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ الْجُمُعَةَ فَقَرَأَ بَعْدَ سُورَةِ الْجُمُعَةِ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالَ فَأَدْرَكْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ حِينَ انْصَرَفَ فَقُلْتُ لَهُ إِنَّكَ قَرَأْتَ بِسُورَتَيْنِ كَانَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ يَقْرَأُ بِهِمَا بِالْكُوفَةِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ

ابو رافع ویلي دي. مروان ابوهریرة رضی الله عنه لره په مدینه کښې خلیفه مقرر کړو. او هغه مکې ته لاړو او ابوهریرة رضی الله عنه د جمعې مونځ ورکولو. او د سورهٔ جمعه نه پس ئې په دویم رکعت کښې سورهٔ منافقون اولوستو. بیا زهٔ د هغهٔ سره میلاو شوم او ورته م اووے. چه تا هغه سورتونه اولوستل کوم چه علي کرّم الله وجهه په کوفه کښې لوستل. هغوی اووے. چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه په جمعه کښې به ئې دغه لوستهٔ.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِيدَيْنِ وَفِي الْجُمُعَةِ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ قَالَ وَإِذَا اجْتَمَعَ الْعِيدُ وَالْجُمُعَةُ فِي يَوْمٍ

نعمان بن بشیر رضی الله عنه ویلي دي چه رسول الله ﷺ به په اخترونو او جمعه کښې بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى او هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ لوستول او کله چه به جمعه او اختر دواړه په یوه ورځ وو. بیا به هم هغه دغه دواړه سورتونو لره په دغه دواړو مونځونو کښې لوستهٔ

وَاحِدٍ يَقْرَأُ بِهِمَا أَيْضًا فِي الصَّلَاتَيْنِ

مسلمؒ فرمايلي دي . دا روايت کړے دے ما ته قتيبهؒ هغۀ ته ابوعوانه هغۀ ته ابراهيم ددغې اسناد سره.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَتَبَ الضَّحَّاكُ بْنُ قَيْسٍ إِلَى النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ يَسْأَلُهُ أَيَّ شَيْءٍ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سِوَى سُورَةِ الْجُمُعَةِ فَقَالَ كَانَ يَقْرَأُ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ

عبيد الله بن عبد اللهؓ ويلي دي چه ضحاک بن قيس نعان بن بشيرؓ ته ليکلي اوليږل. چه رسول اللهﷺ به د جمعې په مانځۀ کښې سوا د سورهٔ جمعه نه بل کوم يو سورة لوستلو؟ هغوی اووے. هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ .

بَابُ مَا يَقْرَءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب : د جمعې په ورځ کوم سورتونه لوستل پکار دی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ الٓمٓ تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ وَهَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ وَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ سُورَةَ الْجُمُعَةِ وَالْمُنَافِقِينَ

عبد الله ابن عباسؓ ويلي دي چه رسول اللهﷺ د جمعې په ورځ د سحر په مانځۀ کښې به الٓمٓ تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ او هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لوستلو . او د جمعې په مانځۀ کښې به ئې سورة جمعه او منافقون لوستل

مسلمؒ ويلي دي روايت کړے دے مونږ ته ابن نمير هغوی ويلی دی روايت کړے دے ما ته خما پلار او هغۀ ته محمد بن جعفر هغۀ ته شعبه هغۀ مکحول د دغې اسناد نه په مثل د هغې دواړو مونځونو کښې.او مسلم فرمايلي دي. روايت کړے دے ما ته ابوکريب هغۀ ته وکيع دواړو د سفيان نه په دغې اسناد سره په مثل د هغې دواړو مونځونو کښې. لکه چه سفيان روايت کړی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ الٓمٓ تَنْزِيلُ وَهَلْ أَتَى

ابوهريرهؓ ويلي دي چه رسول اللهﷺ به د جمعې په سحر کښې الٓمٓ تَنْزِيلُ او هَلْ أَتَى لوستل[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ فِي الصُّبْحِ

ابوهريرهؓ ويلي دي چه نبی کريمﷺ به د جمعې د سحر په

[1] دَ دے نه ددغه سورتونو د لوستلو استحباب ثابت شو.

يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِ الٓمٓ تَنْزِيلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى وَفِي الثَّانِيَةِ هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَذْكُورًا

مانځهٔ کښې الٓمٓ تَنْزِيلُ په رومبی رکعت کښې. او هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَذْكُورًا به ئې په دویم رکعت کښې لوستلو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا

ابوهریرهؓ ویلی دی رسول اللهﷺ فرمایلی دی. هر کله چه څوک د جمعې (مونځ) اوکړی نو د هغې نه پس د څلور رکعته سنت کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّيْتُمْ بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَصَلُّوا أَرْبَعًا زَادَ عَمْرٌو فِي رِوَايَتِهِ قَالَ ابْنُ إِدْرِيسَ قَالَ سُهَيْلٌ فَإِنْ عَجِلَ بِكَ شَيْءٌ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ فِي الْمَسْجِدِ وَرَكْعَتَيْنِ إِذَا رَجَعْتَ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. کله چه تاسو د جمعې (مونځ) اوکړئ. نو څلور رکعته مونځ کوئ. عمرو په خپل روایت کښې دا زیاته کړه چه ابن ادریس ویلی دی سهیل وائی کچرې ستاسو تادی وی. نو په جماعت کښې دوه رکعته او چه کورته لاړ شئ دوه رکعته اوکړئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ مِنْكُمْ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی. چه څوک ستاسو نه د جمعې (د مانځهٔ) نه پس مونځ کوی. نو څلور رکعته د کوی. او د جریر په روایت کښې د مِنكُمْ یعنی ستاسو نه لفظ نشته دے[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ انْصَرَفَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ ذَلِكَ

د عبد الله بن عمرؓ عادت وو. چه کله به ئې د جمعې (مونځ) کولو. نو کورته به راغې دوه رکعته به ئې ادا کړلو. او ویل به ئې چه رسول اللهﷺ به هم دغه شان کولو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ وَصَفَ تَطَوُّعَ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَانَ لَا يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتَّى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ قَالَ يَحْيَى أَظُنُّنِي قَرَأْتُ فَيُصَلِّي أَوْ أَلْبَتَّةَ

عبد الله بن عمرؓ د رسول اللهﷺ نفلونو لره بیان کړل او اوئې ویل چه د جمعې (د مانځهٔ) نه پس به ئې څهٔ نهٔ کول د کومې پورې چه به کورته واپس راغلې نهٔ وو. بیا به ئې په کور کښې دوه رکعته اوکړل یحیی ویلی دی چه څما خیال دے چه ما لوستلې دی (یعنی د امام مالکؒ رو برو د حدیثو د قراءت په وخت) بیا به م هغې لره ضرور کولو.

[1] معلومه شوه چه دا څلور رکعتو نه واجب نهٔ دی مستحب دی. او د محدثینو رحمهم الله احتیاط اوګورئ چه یو لفظ کوم چه د جریر په روایت کښې نهٔ وو هغې لره ئې هم بیان کړو. حالانکه هغهٔ ته په اصل مطلب کښې څهٔ دخل نهٔ وو.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ

سالم د خپل پلار نه روایت کړے دے چه نبی کریم ﷺ د جمعې (د مانځهٔ) نه پس دوه رکعته کول.

عَنْ عُمَرَ بْنِ عَطَاءِ بْنِ أَبِي الْخُوَارِ أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ ابْنِ أُخْتِ نَمِرٍ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَآهُ مِنْهُ مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ نَعَمْ صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي الْمَقْصُورَةِ فَلَمَّا سَلَّمَ الْإِمَامُ قُمْتُ فِي مَقَامِي فَصَلَّيْتُ فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ إِلَيَّ فَقَالَ لَا تَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ فَلَا تَصِلْهَا بِصَلَاةٍ حَتَّى تَكَلَّمَ أَوْ تَخْرُجَ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِذَلِكَ أَنْ لَا تُوصَلَ صَلَاةٌ بِصَلَاةٍ حَتَّى نَتَكَلَّمَ أَوْ نَخْرُجَ

عمر بن عطاء بن ابی الخوار وېلی دی چه نافع بن جبیر هغهٔ لره اولیږلو د سائب په طرف باندے او د څهٔ داسے څیز تپوس ئے اوکړو چه هغه هغوی د معاویه‌ؓ سره په مانځهٔ کښې لیدلے وو. نو سائب اووے. آو. ما د هغهٔ سره د جمعې (مونځ) کړے دے په مقصوره کښې بیا چه کله امام سلام اوګرځوو. نو زهٔ په خپل ځائے باندے اودریدم او مونځ م اوکړو. نو زهٔ ئے را اوغوښتم او راته ئے اووے. دا تا کوم چه نن اوکړو داسے بیا مهٔ کوه (یعنی د فرضو او د سنتو په مینځ کښې دِ نه خبرے اوکړی او نه د هغه ځائے نه لرے شوے) او کله چه دِ جمعه اوکړله نو د کومے پورے چه د خبرے نهٔ وی کړے. یا وتلے نهٔ ئے د هغې پورې څهٔ مونځ مهٔ کوه. او اوئے وېلی چه مونږ ته رسول الله ﷺ دغه حکم فرمایلے دے چه مونږ د دوارو مونځونو لره نهٔ میلاوه وو. چه د هغې په مینځ کښې نهٔ خبرے اوکړو او نهٔ د هغه ځائے نه اوځو[1].

مسلمؒ فرمایلی دی. روایت کړے دے ما ته هارون هغهٔ ته حجاج بن محمد هغهٔ ته ابن جُریج هغهٔ ته عمر بن عطاء چه نافع بن جبیر هغهٔ لره په سائب پسے اولیږلو. او بیان ئے کړو حدیث په مثل د پورته روایت مګر دومره فرق دے چه هغوی اووے. چه کله هغهٔ سلام اوګرځوو. زهٔ په خپل ځائے باندے اودریدم او د امام ذکر ئے کړے نهٔ دے.

[1] دد ے نه معلومه شوه چه په فرضو او سنتو کښې فرق کول پکار دی. چه د دوارو په مینځ کښې خبرے اوکړے شی. یا چرته لرِ شی (یعنی ځائے بدل کړی)

كِتَابُ صَلٰوةِ الْعِيدَيْنِ

د اخترونو د مانځه بیان[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدْتُ صَلَاةَ الْفِطْرِ مَعَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ فَكُلُّهُمْ يُصَلِّيهَا قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ يَخْطُبُ قَالَ فَنَزَلَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ حِينَ يُجَلِّسُ الرِّجَالَ بِيَدِهِ ثُمَّ أَقْبَلَ يَشُقُّهُمْ حَتَّى جَاءَ النِّسَاءَ وَمَعَهُ بِلَالٌ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللهِ شَيْئًا فَتَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ حَتَّى فَرَغَ مِنْهَا ثُمَّ قَالَ حِينَ فَرَغَ مِنْهَا أَنْتُنَّ عَلَى ذٰلِكِ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ لَمْ يُجِبْهُ غَيْرُهَا مِنْهُنَّ نَعَمْ يَا نَبِيَّ اللهِ لَا يُدْرٰى حِينَئِذٍ مَنْ هِيَ قَالَ فَتَصَدَّقْنَ فَبَسَطَ بِلَالٌ ثَوْبَهُ ثُمَّ قَالَ هَلُمَّ فِدًى لَكُنَّ أَبِي وَأُمِّي فَجَعَلْنَ يُلْقِينَ الْفَتَخَ وَالْخَوَاتِمَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ

ابن عباس ﷺ وېلي دي چه زهٔ د وړوکی اختر مانځهٔ له د نبی کریم ﷺ سره او د ابوبکرؓ، عمرؓ او عثمانؓ سره لاړم. نو ددے ټولو بزرګانو قاعده وه چه مونځ به ئے د خطبے نه مخکښې کولو او د هغے نه پس به ئے خطبه لوستله. او نبی کریم ﷺ راکوز شو یعنی خطبه ئے اولوسته لکه زهٔ د هغهٔ طرفته ګورم. کله چه هغوی خلقو لره دلاس په اشاره کولو سره کینول شروع کړل. بیا ئے د هغوی صفونه او شلول او هغهٔ د ښځو خواله راغے. او د هغهٔ سره بلالؓ هم وو. او هغهٔ دا آیت اولوستو. د أَيُّهَا النَّبِيُّ نه د اخره پورے. تردے پورے چه اوزګار شو هغه د هغے نه او اوئے فرمائیل. چه تاسو ددغے ټولو اقرار اوکړو. چه د هغوی نه یوے ښځے اووے آو. اے د الله تعالی نبی. راوی وېلي دي چه معلومه نۀ ده چه هغه څوک وه. بیا هغوی صدقه ورکول شروع کړو او بلالؓ خپله کپړه خوره کړه. او اوئے وېل راوړئ: خما پلار مور د ستاسو نه قربان وی. پس هغوی ټولو بنګړی او ګوتمئ ویستلے د بلال په کپړا کښې ئے واچولے[2].

---

[1] د اخترونو مونځ د امام شافعي رحمه الله او د جمهورو ملګرو د شافعي رحمه الله او د جمهورو علماؤ په نیز سنت مؤکد دے. او د ابوسعید اصطخري شافعي رحمه الله په نیز فرض کفایه دے او د ابوحنیفه رحمه الله په نیز واجب دے. غرض دا چه کله مونږ قائل شو چه فرض کفایه دے نو کۀ چرے د یو ملک خلق بالکل دے لره پریږدي نو د هغوی سره جنګ واجب دے. او دغه حکم دے د ټولو فرض کفایو. او کۀ چرے د سنتو قائل سو نو د هغے د پریخودلو ولا سره به قتال واجب نۀ وی. په شان د ماسپخین د سنتو وغیره. او بعضو وېلي دي چه په دغه صورت کښې به هم قتال واجب وی. ځکه چه دا ښکاره شعار دے د اسلام او اختر ته عید ددے دپاره وېلے شي چه بار بار راځي.

[2] [illegible] معنی داده چه اے پیغمبره ... کله چه راشي ستا خواله ایمان راوړلو والا ښځے. او بیعت کوی هغه ستا نه چه نه به شریک [illegible] چه یو [illegible] نبی، ولي، پیر، قبر، چالره، او نۀ به غلا کوو او نۀ به زنا کوو او نۀ به خپل اولاد قتلوو او نۀ به چا باندے

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ أَشْهَدُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَصَلَّى قَبْلَ الْخُطْبَةِ قَالَ ثُمَّ خَطَبَ فَرَأَى أَنَّهُ لَمْ يُسْمِعِ النِّسَاءَ فَأَتَاهُنَّ فَذَكَّرَهُنَّ وَ وَعَظَهُنَّ وَ أَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ وَ بِلَالٌ قَائِلٌ بِثَوْبِهِ فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِي الْخَاتَمَ وَالْخُرْصَ وَالشَّيْءَ

ابن عباس به ویل. زهٔ ګواهي ورکوم چه رسول الله ﷺ مونځ اوکړو د خطبې نه مخکښې. او خیال ئې اوکړو چه د هغهٔ خطبه ښځو نهٔ ده اوریدلې. بیا هغهٔ د هغوی خواله راغے. او هغوی ته ئې نصیحت اوکړو او د صدقې حکم ئې ورته اوکړو. او بلال خپله کپړه خوره کړے وه. او د ښځو نه یو هغې کښې چا ګوتۍ غورخوله او چا ښنګرې او چا نور څهٔ!

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَوْمَ الْفِطْرِ فَصَلَّى فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ فَلَمَّا فَرَغَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ وَأَتَى النِّسَاءَ فَذَكَّرَهُنَّ وَهُوَ يَتَوَكَّأُ عَلَى يَدِ بِلَالٍ وَبِلَالٌ بَاسِطٌ ثَوْبَهُ يُلْقِينَ النِّسَاءُ صَدَقَةً قُلْتُ لِعَطَاءٍ زَكَاةَ يَوْمِ الْفِطْرِ قَالَ لَا وَلَكِنْ صَدَقَةً يَتَصَدَّقْنَ بِهَا حِينَئِذٍ

جابر ویلي دي چه رسول الله ﷺ په ورومکي اختر کښې مخکښې مونځ اوکړو او بیائے خلقو ته خطبه اولوستله او کله چه فارغ شو. راکوز شو او ښځو ته ئې تشریف راوړو. او هغوی ته ئې نصیحت اوکړو. او هغهٔ د بلال په لاس باندے ئې تکیه لګولے وه. او بلال خپله کپړه خوره کړے وه. او ښځو به پکښې صدقه غورخوله راوی ویلي دي ما د عطاء نه تپوس اوکړو چه دا صدقه فطر وو؟ هغوی اووے نه. دا نوره صدقه وه چه هغوی ورکوله غرض دا چه هرے ښځے ښنګرې غورځول. او بیا دویمے او بیا دریمے. ما عطاء ته اووے. چه

په خپلو لاسو خپو سره بهتان تړو. او نهٔ به د څهٔ شریعت په خبره کښې ستا نافرماني کوو. نو د هغوی نه بیعت واخله او د هغوی دپاره د الله پاک نه د مغفرت دُعا اوغواړه. بیشکه الله بخونکے او مهربان دے" او دا آیت په سورهٔ ممتحنه کښې دے. غرض دا چه دد ے آیت موافق هغهٔ د هغوی نه اقرار واخستو.

دد ے حدیث نه معلومه شوه چه خطبه د اختر د مانځهٔ نه پس ده په خلاف د جمعې او ښځو ته نصیحت کول مستحب دي. او د ښځو د اختر مانځهٔ ته حاضریدل مسنون دي. او د صدقې ترغیب ورکول مستحب دي. او ښځو لره د سرو نه لرے اوودریدل مستحب دي او ضروري دي. او په نفلي صدقه کښې ایجاب او قبول ضروري نهٔ دے. صرف ورکول او اخستل کافي دي. او ښځو لره په خپل مال کښې د خاوند د جازت نه بغیر صدقه ورکول روا دي.

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه کهٔ چرے ښځے لرے وي. نو امام به د خطبې نه پس د هغوی خواله لاړ شي او څهٔ نصیحت به ورته کوي. او هغوی به نیکو کارونو ته د رابللو او د بدوکارونو نه په منع کولو ضرور پوهه کوي.

مسلم ویلي دي. روایت کړے دے ما ته ابو الرّبیع هغهٔ ته حمّاد اوویلي دي روایت کړے دے ما ته یعقوب دورقي، هغوی ته اسمعیل. دواړو روایت کړے دے د ایوب نه په دے سند سره دد ے په مثل.

تُلْقِي الْمَرْأَةُ فَتَخَهَا وَيُلْقِينَ وَيُلْقِينَ قُلْتُ لِعَطَاءٍ أَحَقًّا عَلَى الْإِمَامِ الْآنَ أَنْ يَأْتِيَ النِّسَاءَ حِينَ يَفْرُغُ فَيُذَكِّرُهُنَّ قَالَ إِي لَعَمْرِي إِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ عَلَيْهِمْ وَمَا لَهُمْ لَا يَفْعَلُونَ ذٰلِكَ

اوس هم امام له واجب دی چه د ښځو خواله څی. کله چه د خطبې نه اوزګار شی او هغوی ته به نصیحت کوی؟ نو هغوی اووے. ولے نه قسم دے څما په خپل روح باندے چه بیشکه د امامانو حق دے. چه د هغوی خواله لاړ شی او خدائے خبر چه هغوی له څۀ شوی دی. چه هغه اوس په دے باندے عمل نۀ کوی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ يَوْمَ الْعِيدِ فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ ثُمَّ قَامَ مُتَوَكِّئًا عَلَى بِلَالٍ فَأَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ وَحَثَّ عَلَى طَاعَتِهِ وَوَعَظَ النَّاسَ وَذَكَّرَهُمْ ثُمَّ مَضَى حَتَّى أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ فَقَالَ تَصَدَّقْنَ فَإِنَّ أَكْثَرَكُنَّ حَطَبُ جَهَنَّمَ فَقَامَتِ امْرَأَةٌ مِنْ سِطَةِ النِّسَاءِ سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ فَقَالَتْ لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لِأَنَّكُنَّ تُكْثِرْنَ الشَّكَاةَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ قَالَ فَجَعَلْنَ يَتَصَدَّقْنَ مِنْ حُلِيِّهِنَّ يُلْقِينَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ مِنْ أَقْرِطَتِهِنَّ وَخَوَاتِمِهِنَّ

جابر بن عبدالله رضی الله عنه وبلی دی . زۀ د اختر په مانځۀ کښی د رسول الله ﷺ سره وم. نو هغۀ د خطبې نه مخکښی مونځ اوکړو. بغیر د اذان او تکبیر نه بیا د بلال په تکیه باندے اودریدو. او حکم ئے اوکړو د الله نه د ویرے او ترغیب ئے ورکړو د هغۀ د تابعدارئ. او خلقو له ئے پوهه کړل او نصیحت ئے اوکړو. بیا د ښځو خواله لاړو او هغوی له ئے پوهه کړے او نصیحت ئے ورته اوکړو او ورته ئے اوفرمایل خیرات کوئ خکه چه زیاتے په تاسو کښی د جهنم خشاک دی. نو یوه ښځه د هغوی د مینځ نه اودریده سرۀ تور انګو والا. او هغے عرض اوکړو چه ولے اے د الله رسوله! حضرت ﷺ اوفرمایل. چه شکایت ډیر کوی او د خاوند ناشکری. راوی وبلی دی چه بیائے خیرات کول شروع کړو د خپلو کالو پترو نه او غورخول به ئے د بلال رضی الله عنه په کپړه کښی د خپلو غوږونو والئ او د لاسونو بنګړی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَا لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَلَا يَوْمَ الْأَضْحَى ثُمَّ سَأَلْتُهُ بَعْدَ حِينٍ عَنْ ذٰلِكَ فَأَخْبَرَنِي قَالَ أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيُّ أَنْ لَا أَذَانَ لِلصَّلَاةِ يَوْمَ الْفِطْرِ حِينَ يَخْرُجُ الْإِمَامُ وَلَا بَعْدَ مَا يَخْرُجُ وَلَا

ابن عباس رضی الله عنه او جابر بن عبد الله وبلی دی چه اذان به نۀ په ورو کی اختر کښی کیدو او نۀ په لوئے اختر کښی. بیا ما څۀ لږ ساعت پس د دے خبرے په باره کښی د هغۀ نه تپوس اوکړو (دا قول دے د ابن جریج راوی) نو هغوی اووے (یعنی د هغوی شیخ عطاء) چه خبر راکړے دے ماته جابر بن عبد الله انصاری رضی الله عنه چه نۀ به اذان کیدو په ورو کی اختر کښی کله چه به امام اووتلو او نه به ... د هغه نه او

إِقَامَةَ وَلَا نِدَاءَ وَلَا شَيْءَ لَا نِدَاءَ يَوْمَئِذٍ وَلَا إِقَامَةَ

نه به تکبیر کیدو نه اذان او نه نور څۀ. هغه ورځ داسې ده چه په هغه ورځ نه اذان شته نه تکبیر[1].

عَنْ عَطَاءٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَرْسَلَ إِلَى ابْنِ الزُّبَيْرِ أَوَّلَ مَا بُويِعَ لَهُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ لِلصَّلَاةِ يَوْمَ الْفِطْرِ فَلَا تُؤَذِّنْ لَهَا قَالَ فَلَمْ يُؤَذِّنْ لَهَا ابْنُ الزُّبَيْرِ يَوْمَهُ وَأَرْسَلَ إِلَيْهِ مَعَ ذَلِكَ إِنَّمَا الْخُطْبَةُ بَعْدَ الصَّلَاةِ وَإِنَّ ذَلِكَ قَدْ كَانَ يُفْعَلُ قَالَ فَصَلَّى ابْنُ الزُّبَيْرِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ

عطاءؒ وېلی دی چه ابن عباسؓ پیغام اولیږو د ابن زبیرؓ په طرف کله چه د هغۀ نه اول اول خلقو بیعت کړے وو چه د وړوکی اختر په مانځۀ کښې اذان نۀ شي ورکیدے. نو تۀ نن ورځ اذان مۀ کوه. نو ابن زبیر اذان اونۀ کړو. او دائے هم وینا اولیږله چه خطبه د مانځۀ نه پس لوستل پکار دی. او هغه به دغه شان کولو. نو ابن زبیرؓ هم مونځ د خطبې نه مخکښې اوکړو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلَا مَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ

جابر بن سمرهؓ وېلی دی. ما مونځ کړے دے د رسول اللهﷺ سره د دواړو اخترونو څو ځله. بغیر د اذان او بغیر د اقامت نه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ كَانُوا يُصَلُّونَ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ

عبد الله بن عمرؓ وېلی دی چه نبی کریمﷺ او ابوبکرؓ او عمرؓ دے تولو به د اختر مونځ د خطبې نه مخکښې کولو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْرُجُ يَوْمَ الْأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ فَيَبْدَأُ بِالصَّلَاةِ فَإِذَا صَلَّى صَلَاتَهُ وَسَلَّمَ قَامَ فَأَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَهُمْ جُلُوسٌ فِي مُصَلَّاهُمْ فَإِنْ كَانَ لَهُ حَاجَةٌ بِبَعْثٍ ذَكَرَهُ لِلنَّاسِ أَوْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ بِغَيْرِ ذَلِكَ أَمَرَهُمْ بِهَا وَكَانَ يَقُولُ تَصَدَّقُوا تَصَدَّقُوا تَصَدَّقُوا وَكَانَ أَكْثَرَ مَنْ

ابوسعید خدریؓ وېلی دی چه رسول اللهﷺ به په لوئے اختر او وړوکی اختر کښې چه کله (د کوره) راااووتو. نو وړمبې به ئے مونځ اوکړو بیا چه به ئے د مانځۀ نه سلام اوګرځوو نو اودریدو به او د خلقو طرفته به ئے مخ کړو. او خلق به ټول ناست وو د خپل مانځۀ په ځائے باندې بیا کۀ چرې هغۀ ته به د څۀ لښکر لیږلو ضرورت وو نو خلقو ته به ئے بیان کړو. او کۀ چرې بل څۀ کار به وو نو د هغې حکم به ئے اوکړو او به ئے فرمائیل صدقه ورکړئ صدقه ورکړئ او زیاتو ښځو به په دغه ورځ صدقې ورکولې. بیا کورته واپس شو. غرض دا چه د هغۀ دغه عادت

---

[1] ددے نه په ښۀ شان له معلومه شوه چه دا کرم نادان خلق په دغه ورځ د صلوة وغیره چغې وهی. دا بدعت دے او دے نه ... ن ویل حماقت دے او په دے باندے د ټولو علماؤ اجماع ده او د سلفو نه په دے کښې خلاف منقول نۀ دے

يَتَصَدَّقُ النِّسَاءُ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَلَمْ يَزَلْ كَذٰلِكَ حَتّٰى كَانَ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ فَخَرَجْتُ مُخَاصِرًا مَرْوَانَ حَتّٰى أَتَيْنَا الْمُصَلَّى فَإِذَا كَثِيرُ بْنُ الصَّلْتِ قَدْ بَنٰى مِنْبَرًا مِنْ طِينٍ وَلَبِنٍ فَإِذَا مَرْوَانُ يُنَازِعُنِي يَدَهُ كَأَنَّهُ يَجُرُّنِي نَحْوَ الْمِنْبَرِ وَأَنَا أَجُرُّهُ نَحْوَ الصَّلَاةِ فَلَمَّا رَأَيْتُ ذٰلِكَ مِنْهُ قُلْتُ أَيْنَ الِابْتِدَاءُ بِالصَّلَاةِ فَقَالَ لَا يَا أَبَا سَعِيدٍ قَدْ تُرِكَ مَا تَعْلَمُ قُلْتُ كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَأْتُونَ بِخَيْرٍ مِمَّا أَعْلَمُ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ انْصَرَفَ

وو تردے پورے چه مروان بن حکم حاکم شو. او زۀ د هغۀ سره لاس په لاس کښې ورکړے را بهر شوم تردے پورے چه عيدګاه ته راغلو او هلته کثير بن صلت يو ممبر جوړ کړے ايخودے وو د خټے او د خختو نه مروان څما نه خپل لاس ازادول شروع کړو. لکه هغه زۀ د ممبر په طرف راښکودم او ما هغه د مانځۀ په طرف بيا چه کله ما دا اوليدل نو هغۀ ته م اووے د مانځۀ مخکښې کول چرته لاړل؟ هغۀ اووے. اے ابوسعيدؓ! پريخودے شو هغه سنت د کومے چه تا ته پته ده. ما اووے. هيڅ کله نۀ شي کيدے. قسم دے په هغه پروردګار چه څما روح د هغۀ په لاس کښې دے. چه تۀ بهتر کار کوه د هغے نه کوم چه زۀ غواړمه (يعنی بدعت د سنتو برابر کيدے نۀ شي. غوره کيدل خو پريږده) دا چه دا خبره ما هغۀ ته درے ځله اوکړله[1]

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ أَمَرَنَا تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُخْرِجَ فِي الْعِيدَيْنِ الْعَوَاتِقَ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ وَأَمَرَ الْحُيَّضَ أَنْ يَعْتَزِلْنَ مُصَلَّى الْمُسْلِمِينَ

أُمّ عطيهؓ ويلی دی مونږ ته حکم کړے دے يعنی نبی کريم ﷺ چه مونږ په اخترونو کښې عيدګاه ته لاړے شو. ځوانانو ناوادۀ شوو جينکو او پرده دارو ښځو ته. او حکم ئے اوکړو چه حيض والا ښځے به د مسلمانانو د مانځۀ د ځائے نه لرے لرے وی.

بَابُ ذِكْرِ إِبَاحَةِ خُرُوجِ النِّسَآءِ فِي الْعِيدَيْنِ

باب: په اخترونو کښې د ښځو وتل عيدګاه ته خو سړو نه به جدا وی

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُخْرِجَهُنَّ فِي الْفِطْرِ وَالْأَضْحٰى الْعَوَاتِقَ وَالْحُيَّضَ وَذَوَاتِ

أُم عطيهؓ ويلی دی چه حکم کړے دے مونږ ته رسول اللهﷺ چه لاړے شو مونږ په وړوکی اختر کښې او په لوئے اختر کښې عيدګاه ته ناوادۀ شوے جينکۍ ځوانانے او حيض والا او پرده دارے ښځے. خو

---

[1] د بخاری رحمه الله په روايت کښې دی چه هغوی د مانځۀ نه پس د هغۀ سره دا خبرے اترے اوکړے. او مونځ ئے د خطبے نه پس هم د مروان سره اوکړو. د دے نه معلومه شوه چه مونځ د خطبے نه پس هم روا دے. او کۀ چرے څوک ئے کوی نو صحيح کيږی. مګر سنت به پريخودے شي. په خلاف د جمعے د مانځۀ چه هغه د خطبے نه مخکښې صحيح کيدے نۀ شي.

الْخُدُورِ فَأَمَّا الْحُيَّضُ فَيَعْتَزِلْنَ الصَّلَاةَ وَيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُسْلِمِينَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِحْدَانَا لَا يَكُونُ لَهَا جِلْبَابٌ قَالَ لِتُلْبِسْهَا أُخْتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا

حیض والا به جُدا وی د مانځهٔ د ځائے نه او حاضرے به وی په دغه نیک کار کښې او د مسلمانانو په دُعا کښې ما عرض اوکړو اے د الله رسوله! په مونږ کښې د چا سره څادر نهٔ وی هغهٔ اوفرمایل چه ورېسر دِ کړے خور د هغے څادر خپل[1]

بَابُ تَرْكِ الصَّلٰوةِ قَبْلَ الْعِيدِ وَبَعْدَهَا فِي الْمُصَلّٰى

باب: د اختر د مونځ نه مخکښې او روسته نفل منع دی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ أَضْحَى أَوْ فِطْرٍ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ وَمَعَهُ بِلَالٌ فَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِي خُرْصَهَا وَتُلْقِي سِخَابَهَا

ابن عباس ویلی دی چه رسول الله ﷺ په لوئے اختر یا په وړوکی اختر کښې راووتو. او دوه رکعته ئے اوکړل چه د هغے نه ئے نهٔ مخکښې مونځ اوکړل او نهٔ رسته او د هغهٔ سره بلال هم وو. بیائے حکم اوکړو ښځو ته د صدقے. بیا چا خو خپل بنګړی ویستل او چا د لونګو هار چه د هغوی په غاړه به وو.

مسلم ویلی دی. روایت کړے دے ما ته عمرو ناقد هغهٔ ته ابن ادریس او ویلی دی چه روایت کړے ما ته ابوبکر بن نافع او محمد بن بشار، دواړو ویلی دی روایت کړے دے مونږ ته غندر هغهٔ ته شعبه په دے اسناد سره په شان دد ے روایت.

بَابُ مَا يُقْرَءُ بِهِ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

باب: د اخترونو په مونځ کښې به څهٔ لولی

عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ مَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ فَقَالَ كَانَ يَقْرَأُ فِيهِمَا بِق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ وَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ

عبید الله ویلی دی چه عمر بن خطاب د ابوواقد لیثی نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به د لوئے اختر او د وړوکی اختر (په مانځهٔ) کښې څهٔ لوستل؟ هغوی اووے. چه هغهٔ به په هغے کښې ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ واقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ لوستهٔ

---

[1] . دد ے نه معلومه شوه. چه عیدګاه ته د ښځو حاضریدل هم مستحب دی. او د نیکئ په کار کښې د یو بل نه د څهٔ څیز غوښتل ورکول د ثواب موجب دی.

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي اللَّعِبِ الَّذِي لَا مَعْصِيَةَ فِيهِ فِي أَيَّامِ الْعِيدِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ أَبُو بَكْرٍ وَعِنْدِي جَارِيَتَانِ مِنْ جَوَارِي الْأَنْصَارِ تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاوَلَتْ بِهِ الْأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثَ قَالَتْ وَلَيْسَتَا بِمُغَنِّيَتَيْنِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَبِمَزْمُورِ الشَّيْطَانِ فِي بَيْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَلِكَ فِي يَوْمِ عِيدٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَهَذَا عِيدُنَا

باب: هغه لوبې چه اختر کښې جائز وی

عائشې رض فرمايلي دی چه خما کورته ابوبکر رض راغې. او خما سره د انصارو دوه جينکۍ وې. او هغوی د بُعاث قصه چه انصارو په نظم کړے وه ويله (بُعاث هغه جنګ وو چه د انصارو د دوو قبيلو اُوس او خزرج په مينځ کښې د کفر په حالت کښې شوے وو او په هغې کښې اُوس بريالي شوے وو) او هغې جينکو د سندرو کسب نۀ کولو. نو ابوبکر رض اووے چه دا د شيطان سُرد رسول الله ﷺ په کور کښې. او دا د اختر ورځ وه. نو رسول الله ﷺ اوفرمايل چه اے ابوبکر رض! اختر د ټولو وی. او نن خمونږه اختر دے (يعنې دوی زړۀ خوشحالولو ته پريږده)[1].

[1] نووی رحمه الله ويلی دی. په سندرو کښې د علماؤ اختلاف دے. خاوندانو د حجاز دے ته مباح ويلی دی. او د مالک رحمه الله نه يو روايت هم داسې دے او ابوحنيفه رحمه الله او خاوندونو د عراق ورته حرام ويلی دی. او د شافعی رحمه الله په مذهب کښې مکروه دی. او د امام مالک رحمه الله دغه مذهب مشهور دے. او کومو خلقو چه ورته مباح ويلی دی د هغوی دليل دغه حديث دے. او کومو خلقو چه منع کړے ده. هغوی جواب ورکړے دے. چه دا سندره د شجاعت او بهادرۍ او جرأت زياتولو دپاره وه. او په هغې کښې څۀ مفسده نۀ وه. په خلاف دد ے سندرو چه رغبت ورکونکې دی شر او ګناه ته. يعنې زنا ته. او قاضی عياض رحمه الله ويلی دی چه د هغه جينکو سندرے ويل اشعار د جنګ او د فخر شجاعت او ظهور د غلبې وو. او په هغې کښې د جينکو د فساد وَهَم هم نۀ وو. او دا سندره په هغه قسم کښې نۀ وه چه په هغې کښې اختلاف دے. او دا خو صرف د شعرونو ويل وو لږ په اوچت آواز سره. ښکه خو حضرت عائشې رضی الله عنها اوفرمايل. چه هغه ، هغه سندری ويونکې نۀ وې. چه هغه ياد راولی د فحاشۍ او ياد راولی د جذبات د خوانۍ. نۀ د هغوی اشعار داسې وو چه د هغې نه دا شرونه پيدا شی. چه هغې ته غزل ويلې شی. چه د هغې دپاره دا مثل مشهور دے " اَلْغِنَا رُقْيَةُ الزِّنَا " يعنې غنا د زنا منتر دے. او نۀ هغه سندره د هغه جينکو داسې وه چه په هغې کښې ګډا او آوازونه اوچتول او ميلاوَول وو او د الفاظو کمول زياتول وو. او د عربو قاعده ده چه صرف شعرونو لوستلو ته سندره وائی. غرض دا چه دا سندره هغه هيڅ کله نۀ وه چه په هغې کښې اختلاف دے. بلکه دا مباح ده او صحابه کرامو رضی الله عنهم دے ته روا ويلې ده چه دا صرف د شعرونو لوستل دی چه په دے کښې څۀ مضمون د فسق نشته او جائز کړی دی آخر هغوی دے اشعارو لره. چه د اوښانو د چلولو دپاره لوستلے کيږی. او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخکښې لوستلې شوی دی. غرض دا چه دا ټول مباح دی حرام نۀ دی.
مسلم رحمه الله ويلی دی چه بيان کړے دے مونږ ته دا روايت يحيی او ابو کريب دواړو د ابو مُعاويه نه هغۀ د هشام نه په دے اسناد سره . او په دے کښې دادی. چه هغه دوه جينکۍ وې. چه په تنبل سره ئے لوبې کولې.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِي أَيَّامِ مِنًى تُغَنِّيَانِ وَتَضْرِبَانِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسَجًّى بِثَوْبِهِ فَانْتَهَرَهُمَا أَبُو بَكْرٍ فَكَشَفَ رَسُولُ اللهِ عَنْهُ وَقَالَ دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّهَا أَيَّامُ عِيدٍ وَقَالَتْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَى الْحَبَشَةِ وَهُمْ يَلْعَبُونَ وَأَنَا جَارِيَةٌ فَاقْدِرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْعَرِبَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ

حضرت عائشہؓ فرمائی چه ښما کورته ابوبکرؓ راغې او ښما سره دوه جينکۍ وې د مِنٰی په ورو کښې (يعنې د ذی الحجه په يو لسمه دولسمه وغيره) سندرې ئې ويلې. او تنبل ئې وهلو. او رسول اللهﷺ خپل سر لره په ښادر پټ کړې وو. نو ابوبکرؓ هغه دواړو لره اورټلې. پس رسول اللهﷺ د خپل سر نه کپړه اوچته کړه او اوئې فرمائيل اے ابوبکرؓ! دے جينکو لره پريږدوه. ځکه چه دا د اختر ورځې دي. او حضرت عائشےؓ فرمايلي دي چه ما رسول اللهﷺ لره اوليدو. چه هغه زۀ په خپل ښادر سره پټه کړې وم. او ما د هغه حبشيانو تماشه کتله چه هغوی لوبې کولے. او زۀ جينۍ وم. نو خيال اوکړه چه کومه جينۍ کم عُمر او د لوبو طلبگاره وی. هغه د څومره وخت پورې تماشا کتلے شي[1].

عَنْ عَائِشَةَ وَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ عَلَى بَابِ

اُمُّ المؤمنين حضرت عائشےؓ فرمايلي دي چه ما رسول اللهﷺ لره اوليدو چه ښما د حجرې په دروازه کښې ولاړ وو. او په خپل ښادر سره

---

[1] ددے حديث نه معلومه شوه. چه د صالحينو مکان د لوبو موبو د څيزونو نه پاک ساتل پکار دی. او د صالحينو دوستانو لره ضروري دی. چه کله داسے څيز اوگوری. نو په خپله به ئے منع کوی. چه هغه بزرگ ته د هغے تکليف او نۀ رسی. په دے کښې د هغه بزرگ ادب او لوئي ده. او حضرتﷺ چه کوم چُپ پاتے وو. نو ددے وجے نه چه هغه جينکو يو مباح کار کولو. او حضرتﷺ مخ ځکه پټ کړو. چه هغه او نۀ شرميږی. او په دی کښې د هغه رأفت او رحمت او حِلم وو. او معلومه شوه چه دف وغيره مباح دے. د سرور او خوشحالۍ په وخت. پس په نکاح وغيره کښې روا دی. او معلومه شوه. چه د مِنٰی ورځے هم په اختر کښې داخلے دی. چه قربانی په دی کښې جائزه ده. او روژه په کښې حرامه ده. او تکبير په کښې مستحب دے. او په دويم روايت کښې راغلی دی چه هغه حبشی د رسول اللهﷺ په جماعت کښې لوبے کولے. ددے نه ثابته شوه چه د اسلحو لوبے. مثلاً د توپک گولۍ يا د غشی نخښنه يا بانک پټه وغيره په نيت د جهاد په جماعت کښې ايزده کول او لوبے کول روا دی. خو داسی نه چه د هغه سړو نظر د ښځو په بدن باندے پريوزی. او کۀ چرے د ښځے نظر په چا نا اشنا سړی باندے په شهوت سره پريوزی. نو په اتفاق سره حرام دی. او کۀ چرے د شهوت خيال ئے نۀ وی او د فتنے يره هم نۀ وی نو د شافعيو په دے کښې دوه قولو نه دی. صحيح قول دادے چه منع دی. ځکه چه الله تعالی فرمايلی دی: وَقُلْ لِلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ او رسول اللهﷺ اُمِ سليمؓ او اُمِ حبيبه ته د يو ړوند سړی نه د پردے کولو حُکم اوکړو. او اوئے فرمايل چه تاسو خو هغۀ لره وينۍ. اگر کۀ هغه ړوند دے. غرض دا چه کوم خلق دغه نظر ته حرام وائی هغه د حضرت عائشےؓ د هغه حديث دا جواب ورکوی. چه اول خو په ديکښې تصريح نشته چه د هغوی بدنونو لره به ئے ليدلو. دويم جواب دادے چه کيدے شی دا د پردے د نازليدو نه مخکښې وی. غرض دا چه ددے حديث نه د رسول اللهﷺ ښکلی اخلاق او مواسات د خپلو بيبيانو سره ثابت شو.

حُجْرَتِي وَ الْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ بِحِرَابِهِمْ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ لِكَيْ أَنْظُرَ إِلَى لَعِبِهِمْ ثُمَّ يَقُومُ مِنْ أَجْلِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّتِي أَنْصَرِفُ فَاقْدِرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ حَرِيصَةً عَلَى اللَّهْوِ

ئې زۀ پټه کړې وم او حبش خلقو د رسول الله ﷺ په جماعت مبارک کښې د خپلو اسلحو سره لوبې کولې. ددې دپاره چه زۀ د هغوی لوبو له اووینم. بیا به ولاړ وو څما دپاره د هغې پورې چه زۀ به (مړه شوم) واپس به شوم. نو خیال اوکړئ چه کومه جینۍ معشومه او د لوبو شوقینه وی. هغه به څومره وخت تماشا کوی (یعنی د هغې وخت پورې به حضرت ﷺ ولاړ وو. او به نه دا کمال د اخلاقو وو).

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدِي جَارِيَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِغِنَاءِ بُعَاثٍ فَاضْطَجَعَ عَلَى الْفِرَاشِ وَحَوَّلَ وَجْهَهُ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ فَانْتَهَرَنِي وَقَالَ مِزْمَارُ الشَّيْطَانِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دَعْهُمَا فَلَمَّا غَفَلَ غَمَزْتُهُمَا فَخَرَجَتَا وَكَانَ يَوْمَ عِيدٍ يَلْعَبُ السُّودَانُ بِالدَّرَقِ وَالْحِرَابِ فَإِمَّا سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِمَّا قَالَ تَشْتَهِينَ تَنْظُرِينَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَأَقَامَنِي وَرَاءَهُ خَدِّي عَلَى خَدِّهِ وَهُوَ يَقُولُ دُونَكُمْ يَا بَنِي أَرْفِدَةَ حَتَّى إِذَا مَلِلْتُ قَالَ حَسْبُكِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاذْهَبِي

اُمُّ المؤمنین حضرت عائشہؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ څما کور ته راغې. او څما سره دوه جینکو سندرې ویلې. د بُعاث د جنګ په باره کښې. او هغهؐ په بستره کښې پریوتو. او خپل مخ ئې د هغوی د طرفنه واړو. او بیا ابوبکرؓ راغې. او زۀ ئې اورټلم چه دا د شیطان سُرد د رسول الله ﷺ په خواه کښې. او رسول الله ﷺ د هغوی په طرف اَوکتل. او اوئې فرمائیل دوی له پرېږد وم (یعنی چه سندرې وائی) بیا چه کله هغه غافلې شوې. ما هغوی دواړو ته اشاره اوکړه چه هغه اووتلې او هغه ورځ د اختر وه. او په سوډانی ډهالونو او نیزوئې لوبې کولې. بیا ما ته یاد نۀ دی چه ما حضرتؐ ته خواهش ظاهر کړو. یا حضرتؐ ما ته په خپله اوفرمایل چه تۀ دې لره لیدل غواړې ما اووې. آو. بیا زۀ هغه خپلې شاته اودرولم. او څما اننګې د هغۀؐ په اننګو وو. او هغۀؐ اوفرمایل اې د ارفده اولاده. تاسو په خپلو لوبو کښې مشغول شئ. تر دې پورې چه کله زۀ ستړې شوم نو هغۀؐ راته اوفرمایل چه بس. ما عرض اوکړو چه آو. نو حضرتؐ اوفرمایل چه څه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَ حَبَشٌ يَزْفِنُونَ فِي يَوْمِ عِيدٍ فِي الْمَسْجِدِ فَدَعَانِي النَّبِيُّ صَلَّى

حضرت عائشېؓ ویلی دی چه یو ځل د اختر په ورځ حبش راغلل او په جماعت کښې ئې لوبې شروع کړې. او رسول الله ﷺ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُ رَأْسِي عَلَى مَنْكِبِهِ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى لَعِبِهِمْ حَتَّى كُنْتُ أَنَا الَّتِي أَنْصَرِفُ عَنِ النَّظَرِ إِلَيْهِمْ

زۀ رااوغوښتم. او ما د هغهٔ په اوګه باندے سر کیښودلو او د هغوی لوبو ته م کتل. تردے پورے چه زۀ په خپله د هغے د کتلو نه بیزاره شو.

مسلم ؒ ویلی دی. او روایت کړے دے ما ته یحیٰی بن یحیٰی هغهٔ ته یحیٰی بن زکریا . او ویلی دی روایت کړے دی ما ته ابن نمیر هغهٔ ته محمد ، دواړو ته هشام ددغے اسناد سره ا و هغوی د جماعت ذکر نۀ دے کړے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لِلَعَّابِينَ وَدِدْتُ أَنِّي أَرَاهُمْ قَالَتْ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْتُ عَلَى الْبَابِ أَنْظُرُ بَيْنَ أُذُنَيْهِ وَعَاتِقِهِ وَهُمْ يَلْعَبُونَ فِي الْمَسْجِدِ قَالَ عَطَاءٌ فُرْسٌ أَوْ حَبَشٌ قَالَ وَقَالَ لِي ابْنُ عَتِيقٍ بَلْ حَبَشٌ

د مسلمانانو مور حضرت عائشے ؓ فرمایلی دی. چه ما په لوبو کولو والا پسی وینا اولیږله. چه زۀ غوارم چه هغے لره اووینمه. فرمائی چه رسول الله ﷺ اودریدهٔ او زۀ هم په دروازه کښې اودریدم. او د هغهٔ د غوږونو په مینځ کښې م ورته کتل. او هغه په جماعت کښې لوبے کولے. عطاء ؒ اووے هغه د فارس خلق وو یا حبشی؟ ابن عتیق اووے حبشی وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا الْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِحِرَابِهِمْ إِذْ دَخَلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَأَهْوَى إِلَى الْحَصْبَاءِ يَحْصِبُهُمْ بِهَا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ دَعْهُمْ يَا عُمَرُ

ابوهریره ؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ په خواه کښې حبشی لوبے کولے په خپلو غشو سره چه حضرت عمر ؓ راغے او ګیتو ته ښکته شو چه هغوی اووهی. نو حضرت ؓ اوفرمایل . چه اے عمره ! دے پریږده چه لوبے کوی.

كِتَابُ صَلٰوةِ الْاِسْتِسْقَآءِ

د استسقاء د مانځهٔ بیان[1]

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدِ نِ الْمَازِنِيِّ يَقُوْلُ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُصَلّٰى فَاسْتَسْقٰى وَحَوَّلَ رِدَاءَهٗ حِيْنَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ

عبد الله بن زيد مازاني فرمايلي وو. چه رسول الله ﷺ اووتهٔ. او اوبهٔ ئے اوغوښتلے. او هغهٔ څادر مبارک لره اَلټه کړو (دا لکه نیک فال وو چه پروردګار زمونږ په دے شان موسم بدل کړی) کله چه ئے د قبلے طرفته مخ کړو[2].

---

[1] د علماؤ اجماع ده چه استسقاء سنت ده. او په دے کښې اختلاف دے. چه مونځ د استسقاء سنت دے یا نهٔ دے. د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دے چه مونځ سنت نهٔ دے. صرف د اوبو دپاره دُعا د، اوکړی. او دا مذهب د ټولو سلفو او خلفو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم او تابعینو او متقدمینو او متأخرینو ټولو نه خلاف دے. او دد ے ټولو په مقابله کښې یواځے د هغه قول څنګه مقبول کیدے شی. اګر کهٔ هغوی د هغه حدیثونو نه تمسک کړے دے چه په هغے کښې د صلوة ذکر نشته. او جمهورو د هغه حدیثونو نه تمسک کړے دے. چه هغه په صحیحین وغیره کښې وارد شوی دی. چه رسول الله صلّی الله علیه وسلم په استسقآء کښې دوهٔ رکعته ادا کړی دی. او په کومو روایتونو کښې چه د مانځهٔ ذکر نشته. نو بعضے محمول دی په دی باندے چه د راوی هیر شوی دی. او په بعضو کښې احتمال دے چه د اختصار په لاز سره راوی ذکر کړی نهٔ دی. او په بعضے روایتونو کښې داسے وارد شوی دی. چه هغه د جمعے په خطبه کښې د استسقآء دپاره دُعا کړے ده. چه هغه د استسقآء دپاره هم کافی او ګڼړلے شوه او کهٔ چرته مونځ نهٔ کول روایت شوی دی نو مراد د هغی نه دا دے چه بغیر د مانځهٔ نه صرف په دُعا باندے اکتفا کول هم روا دی. او د هغے په روا کیدو کښې څهٔ اختلاف نشته. غرض دا چه په کومو حدیثونو کښې د مانځهٔ ذکر راغلے دے. هغه به مقدم ګڼړلے شی. ځکه چه په هغے کښې زیات والے د علم دے. او ثقه خلق چه کومه زیاته خبره بیان کړی هغه مقبوله ده.

خلاصه دا چه د استسقآء درے قسمونه دی. اول صرف دُعا بغیر د مانځهٔ نه. دویم د جمعے په خطبه کښې یا د فرض مانځهٔ نه پس دُعا کول. او دا د اول نه اولی دے. او دریم دوه رکعته ادا کول او دوه خطبے لوستل. او د هغے نه مخکښې او روستو صدقه او روژه او توبه او نیکۍ او خیرات په ځائے راوړل دا د ټولو نه کامله ده. (نووی رحمه الله)

[2] دد ے نه معلومه شوه چه د استسقآء دپاره بهر وتل مستحب دی. ځکه چه په دے کښې عاجزی او تواضع زیاته ده. او د خلقو د جمع کیدو دپاره هم فراخ والے دے. او معلومه شوه چه څادر اَلټه کول هم مستحب دی. شافعیو ویلی دی. چه کله دویمه خطبه درے حصے اوشی. هله به څادر اَلټه کوی. او دغه مذهب دے د شافعی او مالک او احمد رحمهم الله او د جمهورو علماؤ چه ټول څادر اَلټه کول مستحب ګڼړی. او د شافعیو په نزد مقتدیانو لره هم سنت دی. او دغه مذهب د مالک رحمه الله وغیره دے. او د استسقآء دوه رکعته دی. او د امام شافعی رحمه الله او د جمهورو مذهب دادے چه مونځ د خطبے نه مخکښې دے. او لیث ویلی دی چه مونځ د خطبے نه روسته دے او امام مالک رحمه الله هم مخکښې د لیث موافق وو بیا د جمهورو سره شو او د ملګرو د شافعیو قول دے. چه کچرے خطبه ئے د مانځهٔ نه مخکښې اولوسته نو هم روا ده. مګر غوره داده چه د اختر په شان مونځ اول ادا کړی. او د شافعی رحمه الله او د ابن جریر رحمه الله مذهب دادے چه د صلوة استسقآء نه مخکښې تکبیرونه وائی په شان د اختر او دغه مروی دے د ابن مسیّب او

عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُصَلَّى فَاسْتَسْقَى وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَقَلَبَ رِدَاءَهُ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ

عباد بن تمیم د خل تره نه اوریدلی دی چه نبی ﷺ د عیدگاه په طرف رااووتو. او اوبه ئے اوغوښتے. او د قبلے په طرف ئے مخ کړو او خپل څادر ئے اُلته کړو. او دوه رکعته ئے اوکړل

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى الْمُصَلَّى يَسْتَسْقِي وَأَنَّهُ لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ

عبد الله بن زید انصاری خبر ورکړے دے چه رسول الله ﷺ د عید گاه په طرف اووتلو او د اوبو دپاره ئے دُعا اوغوښتله او کله چه ئے اراده اوکړه چه دُعا اوکړی نو د قبلے په طرف شو او خپل څادر ئے اُلته کړو.

عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ الْمَازِنِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ عَمَّهُ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَوْمًا يَسْتَسْقِي فَجَعَلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ يَدْعُو اللهَ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ

عباد بن تمیم مازنی د خپل تره نه اوریدلی دی. چه صحابی وو د رسول الله ﷺ یوه ورځ د استسقآء دپاره اووتو. او خلقو ته ئے شا کړه او د الله نه په دُعا کولو شروع شو او قبلے طرفته ئے مخ کړو. او څادر ئے اُلته کړو او دوه رکعته ئے اوکړل

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ بِالدُّعَاءِ فِي الْاِسْتِسْقَاءِ

باب: په استسقاء کښې د دعا دپاره لاس اوچتول

عَنْ أَنَسٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ

انس رسول الله ﷺ لره اولیدهٔ چه په دُعائے لاس اوچت کړی وو. داسے چه د هغهٔ د ترخونو ویخته ښکاریدلو[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْقَى فَأَشَارَ بِظَهْرِ كَفَّيْهِ إِلَى السَّمَاءِ

انس بن مالک خبر ورکړے دے. چه نبی کریم ﷺ د خپلو ورغوؤ په شا سره د آسمان په طرف باندے اشاره اوکړه[2].

عمر بن عبد العزیز او مکحول نه او د جمهورو مذهب دا دے. چه دا تکبیرونه به نه وائی. او د اذان او تکبیر اقامت په نه ویلو اجماع ده. په شان د اختر مگر د الصّلوة جامعة د ویلو خرابی نشته صحیح دی. (نووی رحمه الله)

[1] د لاسونو دومره اوچتول د هغهٔ صلی الله علیه وسلم نه په استسقآء کښې مروی دی. او په دعا کښې به دومره اوچت نهٔ وو اگر کهٔ اوچتول به ئے.

[2] د بلا لرے کیدو د قحط د دفع کیدو دپاره چه دُعا غواړے نو د غه شان مسنون ده چه د لاسونو شا به د اسمان په طرف کړے او چه کله څهٔ غواړے نو د لاسونو مخ به د اسمان په طرف کړے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ دُعَائِهِ إِلَّا فِي الْاِسْتِسْقَاءِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ غَيْرَ أَنَّ عَبْدَ الْأَعْلَى قَالَ يُرَى بَيَاضُ إِبْطِهِ أَوْ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ

انس ویلی دی چه نبی کریم به نهٔ اوچتوو لاس په یوه دُعا کښې مګر په استسقاء کښې به ئې تردے پورے اوچتول چه د هغهٔ د دواړو ترخونو سپین والے به ښکاره شو. او د عبد الاعلٰی په روایت کښې راوی ته شک دے. چه د یو ترخ یا د دواړو ترخونو[1]

بَابُ الدُّعَاءِ فِي الْاِسْتِسْقَاءِ

باب: په استسقاء کښې د دُعا بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ يَوْمَ جُمُعَةٍ مِنْ بَابٍ كَانَ نَحْوَ دَارِ الْقَضَاءِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ يَخْطُبُ فَاسْتَقْبَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلَكَتِ الْأَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ فَادْعُ اللهَ يُغِثْنَا قَالَ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ أَغِثْنَا اَللّٰهُمَّ أَغِثْنَا اَللّٰهُمَّ أَغِثْنَا قَالَ أَنَسٌ وَلَا وَاللهِ مَا نَرَى فِي السَّمَاءِ مِنْ سَحَابٍ وَلَا قَزَعَةٍ وَمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ سَلْعٍ مِنْ بَيْتٍ وَلَا دَارٍ قَالَ فَطَلَعَتْ مِنْ وَرَائِهِ سَحَابَةٌ مِثْلُ التُّرْسِ فَلَمَّا تَوَسَّطَتِ السَّمَاءَ انْتَشَرَتْ ثُمَّ أَمْطَرَتْ قَالَ فَلَا وَاللهِ مَا رَأَيْنَا الشَّمْسَ سَبْتًا قَالَ ثُمَّ دَخَلَ رَجُلٌ مِنْ ذٰلِكَ

د انس بن مالک نه روایت دے. چه یو سړے جماعت ته د جمعې په ورځ راغے. په هغه دروازه چه د دارالقضاء په طرف ده. او هغه د رسول الله ﷺ مخے ته اودریدو او عرض ئې اوکړو چه اے د الله رسوله ﷺ! د خلقو مال برباد شو اولارے بندے شوے، ته د الله نه دُعا اوغواړه چه مونږ له اوبهٔ راکړی. بیا رسول الله ﷺ دواړه لاسونه اوچت کړل. او عرض ئې اوکړو یا الله! مونږ له اوبهٔ راکړه. یا الله! مونږ له اوبهٔ راکړه یا الله! مونږ له اوبهٔ راکړه. انس وائی. چه په الله قسم چه مونږ نهٔ په آسمان کښې وریځ لیدله نهٔ د بَدلئ څهٔ ټکړه. او زمونږ او د سلع په مینځ کښې نهٔ څهٔ کور وو نهٔ محله (سلع د یو غر نوم دے مدینې ته نژدے) غرض دا چه د سلع د شا طرفته یوه توره وریځ د ډال برابر اوچته شوه او کله چه د آسمان مینځ له راغله نو خوره شوه. او باران شروع شو. (دا د هغهٔ معجزه ده. او د الله فضل دے. چه د هغهٔ دُعا لره ئې دومره زر قبوله کړه ګنی د اوبو دلته ګمان نهٔ وو) بیا په خدائے قسم چه مونږ د یوے هفتے پورے نمر نهٔ لیدو. بیا یو

---

[1] چونکه د نورو روایاتو صحیحو نه لاس اوچتول په نورو دُعاګانو کښې هم ثابت شوی دی. چه هغه روایتونه دیرشو ته نژدے دی. او ددے حدیث تاویل داسے کوی چه دلته د مبالغې سره اوچتول مقصود دی.

مسلم ویلی دی. روایت کړے دے ما ته ابن مثنٰی هغهٔ ته یحیٰی هغهٔ ته ابن ابی عَرُوبه هغهٔ ته قتادہ چه انس بن مالک د نبی کریم ﷺ نه روایت کړے دے دد ے په شان.

الْبَابِ فِي الْجُمُعَةِ الْمُقْبِلَةِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ يَخْطُبُ فَاسْتَقْبَلَهُ قَائِمًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكَتِ الْأَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ فَادْعُ اللَّهَ يُمْسِكْهَا عَنَّا قَالَ فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا اللَّهُمَّ عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُونِ الْأَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ فَانْقَلَعَتْ وَخَرَجْنَا نَمْشِي فِي الشَّمْسِ قَالَ شَرِيكٌ فَسَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَهُوَ الرَّجُلُ الْأَوَّلُ قَالَ لَا أَدْرِي

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَصَابَتِ النَّاسَ سَنَةٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِذْ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَاهُ وَفِيهِ قَالَ اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا قَالَ فَمَا يُشِيرُ بِيَدِهِ إِلَى نَاحِيَةٍ إِلَّا تَفَرَّجَتْ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَدِينَةَ فِي مِثْلِ الْجَوْبَةِ وَسَالَ وَادِي قَنَاةَ شَهْرًا وَلَمْ يَجِئْ أَحَدٌ مِنْ نَاحِيَةٍ

سړے راغے په هغه دروازه په دويمه جمعه. او رسول الله ﷺ خطبه لوستله او بیاد هغهٔ په مخکښې اودريدو او عرض ئے اوکړو چه اے د الله رسوله! مال برباد شو او لارے بندے شوے نو تهٔ د الله نه دُعا اوغواړه چه هغه باران اودروی. بيا هغهٔ دواړه لاسونه اوچت کړل او عرض ئے اوکړو. يا الله! زمونږ نه چا پيره اووروه نهٔ په مونږ دپاسه. يا الله په اوچتو خايونو او نالو. او د اُونو راختو په خايونو باندے اُوروه. غرض دا چه وريځ فوراً اودريدهٔ او مونږ په نمر کښې رااووتو. شريک وائی ما د انس نه تپوس اوکړو. ولے دا هغه سړے وو کوم چه مخکښې راغلے وو. هغوی اووی زهٔ ئے نهٔ پيژنم (د بخاری په روايت کښې راغلی دی چه هغه رومنے سړے وو)[1]

انس بن مالک وائی دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې يو قحط راغے. او هغه يوه ورځ په ممبر باندے خطبه لوستله چه يو کلی والا اودريدو او هغهٔ عرض اوکړو. اے د الله رسوله! زمونږه مال برباد شو او معشومان مو د لوږے نه مړهٔ شو. او د آخره پورے حديث ئے بيان کړو د اول حديث هم معنٰی. او په دے کښې دا دی چه هغهٔ په دُعا کښې عرض اوکړه. اے الله! زمونږ نه چاپيره اووروه. نهٔ په مونږ باندے. غرض دا چه هغهٔ ﷺ به کوم طرفته په لاس سره اشاره کوله د هغه طرفنه به وريځ ښکار کهولاويده. تر دے پورے چه مونږ مدينے ته کتل چه د صحن په شان د مينځ نه کهولاو شوه. او د قنات ناله د يوے مياشتے پورے بهيدله او څوک به د بهر نه نهٔ

[1] د دے حديث نه معلومه شوه چه په استسقاء کښې دُعا هم کافی ده. او د باران د اودريدو د پاره د دعا طريقه هم معلومه شوه. خکه خلقو له په ميدان کښې اجتماع او مونځ مشروع نهٔ دے.

إِلاَّ أُخْبِرَ بِجَوْدٍ و

راتلو مگر هغۀ به د ارزانئ خبر راوړو[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَامَ إِلَيْهِ النَّاسُ فَصَاحُوا وَقَالُوا يَا نَبِيَّ اللهِ قَحَطَ الْمَطَرُ وَاحْمَرَّ الشَّجَرُ وَهَلَكَتِ الْبَهَائِمُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَفِيهِ مِنْ رِوَايَةِ عَبْدِ الْأَعْلَى فَتَقَشَّعَتْ عَنِ الْمَدِينَةِ فَجَعَلَتْ تُمْطِرُ حَوَالَيْهَا وَمَا تُمْطِرُ بِالْمَدِينَةِ قَطْرَةً فَنَظَرْتُ إِلَى الْمَدِينَةِ وَإِنَّهَا لَفِي مِثْلِ الْإِكْلِيلِ

انس بن مالک ویلي دي چه نبي کریم ﷺ د جمعې خطبه لوستله او خلق د هغۀ مخکښې اودریدل او په زوره ئې اووے. اے دالله نبي! باران نۀ کیږي. او د اُونو پاڼے اوچے شولے. او څناور مړۀ شول او بیان ئے کړو حدیث د آخره پورے. او د عبد الاعلی په روایت کښې دادي چه اخر وریځ په مدینه باندے کهولاؤ شوه. او د هغے نه چا پیره باران اوورېدۀ. او په مدینه کښې یو څاڅکے هم نۀ راپریوتو. او ما اولیده چه د توپۍ په شان د مېنځ نه کهولاؤ شوے وه.

مسلم ویلي دي روایت کړے دے مونږ ته دا حدیث ابو کریب هغۀ ته اُسامه هغۀ ته سلیمان بن مغیره هغۀ ته ثابت هغۀ ته انس په شان د پورته روایت. او په دے کښې دا خبره زیاته ده. چه الله تعالی وریځو لره یو ځائے کړه. او زمونږ دا حال شو چه یو طاقتور سړے هم خپل کور ته په تلو یریدو (یعنی د سخت باران د وجے نه)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ وَزَادَ فَرَأَيْتُ السَّحَابَ يَتَمَزَّقُ كَأَنَّهُ الْمُلَاءُ حِينَ تُطْوَى

انس بن مالک ویلي دي چه د یو کلي سړے د جمعې په ورځ د رسول الله ﷺ خواله راغے او هغه په ممبر باندے وو. او بیان ئے کړو حدیث د اخره پورے. او په دے کښې ئے دومره زیاته کړه. چه اولیدله ما د وریځے یوه ټکره لکه چه یو څادر وو. چه نغښتلے شوے وو دغه شان چودلو.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ أَنَسٌ أَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَطَرٌ قَالَ فَحَسَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ثَوْبَهُ حَتَّى أَصَابَهُ مِنَ الْمَطَرِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ لِمَ صَنَعْتَ هَذَا

انس ویلي دي. چه په مونږ باند باران شو او مونږ د رسول الله ﷺ سره وو. نو کهولاؤ کړے هغۀ خپلو کپړو لره تر دے پورے چه اورسی هغه ته باران. پس اوویل مونږه. اے د الله رسوله! تا داسے ولے اوکړل هغۀ اوفرمایل. ځکه چه دا اوس د خپل پروردگار د خوانه

[1] قنات د مدینے په نالو کښې د یوے نالئ نوم دے.

قَالَ لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ تَعَالَى

راغلى دى[1].

بَابُ تَعَوُّذٍ عِنْدَ رُؤْيَةِ الرِّيحِ وَالْغَيْمِ وَالْفَرَحِ بِالْمَطَرِ

باب : د وريځ د ليدو په وخت د نبى كريم ﷺ عادت مبارك

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الرِّيحِ وَالْغَيْمِ عُرِفَ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ وَأَقْبَلَ وَأَدْبَرَ فَإِذَا مَطَرَتْ سُرَّ بِهِ وَذَهَبَ عَنْهُ ذَلِكَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ إِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ عَذَابًا سُلِّطَ عَلَى أُمَّتِي وَيَقُولُ إِذَا رَأَى الْمَطَرَ رَحْمَةٌ

د نبى كريم ﷺ بى بى حضرت عائشې فرمايلى دى چه د رسول الله ﷺ دا قاعده وه. چه كله به د طوفان او تورے وريځے ورځ به وه. نو د هغهٔ په مخ مبارک باندے به يره معلوميده (يعنى د عذاب الهى نه يريدلو) او ساعت له به مخكښ تلو او ساعت له به روستو. بيا كۀ چرے باران به اووريدو نو خوشحاله به شو. او د هغهٔ يره به ختمه شوه. حضرت عائشه فرمائى چه ما د هغهٔ نه تپوس اوكړو. نو هغهٔ اوفرمايل چه زۀ يريږم چه كيدے شى څۀ عذاب نۀ وى. چه الله تعالى څما په امت باندے راليږلے وى. او كله چه به ئے باران اوليدو. نو اوبه ئے ويل چه دا رحمت دے.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَصَفَتِ الرِّيحُ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيهَا وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ قَالَتْ وَإِذَا تَخَيَّلَتِ السَّمَاءُ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ وَخَرَجَ وَدَخَلَ وَأَقْبَلَ وَأَدْبَرَ فَإِذَا مَطَرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ فَعَرَفْتُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لَعَلَّهُ يَا عَائِشَةُ

د نبى كريم ﷺ بى بى حضرت عائشې فرمايلى دى. چه د نبى كريم ﷺ عادت مبارک وو. چه كله به د سيلۍ طوفان راغے. نو د اللّٰهُمَّ نه به ئے د أُرْسِلَتْ بِهِ پورے لوستلو. يعنى يا الله زۀ دد ے هوا بهترى غوارم او څۀ چه په ديكښ د ته دى د هغے بهترى او څۀ چه په دے كښ راليږلى شوى دى د هغے بهترى. او پناه غوارم دد ے د بدۍ نه او څۀ چه په دے كښ دننه دى د هغے د بدۍ نه او څۀ چه دد ے سره راليږلى دى د هغے د بدۍ نه او حضرت عائشه فرمائى چه كله به په آسمان كښ وريځ او ګرز ګرز به كيدهٔ نو د هغهٔ رنګ به بدل شو. او بهر دننه كيدهٔ به او مخكښ كيدو به او روستو كيدهٔ به بيا كۀ چرے باران به شروع شو نو د هغهٔ يره به

---

[1] دد ے حديث نه معلومه شوه. چه د پروردګار جل شانه ذات مقدس پورنه دے. او باران هم دپاسه نه راوريږى. او بعضے تابعدارو د جهم نافهم چه كوم دا تاويل كوى چه هغه اوس د پروردګار پيدا كړے شوے دے. دا تاويل به هله صحيح وو. چه معنى ظاهرى د هغے نا جوړيدے او كله چه ظاهرى معنى بے تكليفه جوړيږى نو د تاويل څۀ ضرورت دے.

كَمَا قَالَ قَوْمُ عَادٍ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا

ختمه‌شوه. غرض دا خبره حضرت عائشې اوپیژندهٔ او د هغهٔ نه ئې تپوس اوکړو. نو هغهٔ اوفرمایل اے عائشې! زهٔ یریږم چه چرته داسې اونهٔ شي لکه د "عاد" قوم چه اولیدل چه وریځ ده. کومه چه د هغوی مخې ته راغلې وه. اوئې فرمایل چه دا وریځ په مونږ باندې وریدلو والاده[1].

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا حَتّٰى أَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ قَالَتْ وَكَانَ إِذَا رَأٰى غَيْمًا أَوْ رِيحًا عُرِفَ ذٰلِكَ فِي وَجْهِهِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَى النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الْغَيْمَ فَرِحُوا رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ فِيهِ الْمَطَرُ وَأَرَاكَ إِذَا رَأَيْتَهُ عَرَفْتُ فِي وَجْهِكَ الْكَرَاهِيَةَ قَالَتْ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَا يُؤْمِنُنِي أَنْ يَكُونَ فِيهِ عَذَابٌ قَدْ عُذِّبَ قَوْمٌ بِالرِّيحِ وَقَدْ رَأٰى قَوْمٌ الْعَذَابَ فَقَالُوا هٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا

د نبی کریم ﷺ بی بی حضرت عائشه فرمائی چه ما نهٔ دے لیدلے رسول الله ﷺ په برق برق خندلو سره. چه د هغهٔ حلق په نظر راتلو بلکه د هغهٔ عادت دا وو چه تبسم یعنی نرۍ خندا به ئې کوله او کله چه به ئې وریځ اولیده یا طوفان نو د هغهٔ په مخ کښې به یره معلومیدله نو ما عرض اوکړو. چه یا رسول الله! (ﷺ) زهٔ نورو خلقو لره وینم چه هغه کله وریځ اووینی نو خوشحاله شي په دے امید سره چه په دے کښې اوبهٔ وی. او کله چه تهٔ وریځ اووینې نو ستا په مخ خفګان وی. حضرت اوفرمایل چه اے عائشې! زهٔ یریږم چه چرته په دے کښې عذاب نهٔ وی. ځکه چه یو قوم د هَوا په عذاب سره هلاک شوے دے. او کله چه یو قوم عذاب لره اولیدو نو اوئې ویل چه دا وریځ ده. یعنی وریځ ده په مونږه باندے وریدلو والا[2].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ

ابن عباس ویلی دی چه نبی کریم فرمایلی دی ما ته د خدائے په حکم سره د صبا نه مدد راکړے شو. او عاد په دبور سره هلاک کړے شوے دے[3].

---

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه د بنده یوه درجه داسې نشته چه هغه ته د خدائے نه یره نهٔ وی. بلکه څومره چه د لوئې بادشاه عالی جاه بې پرواه سره نزدیکت راځی. دومره د هغهٔ نه یره د هغهٔ د بے نیازۍ او بے پروایۍ په لار سره سوا کیږی. او بنده لره لازم دی. چه هر وخت د هغهٔ تعالی شانه د کاملو صفتونو مراقبه کوی. او د هغهٔ د عذاب او عقاب نه پناه غواړی.

[2] رښتیاده دا مصرع - "نزدیکا نرا بیش بو حیرانی" د هغه شهنشاه بلند بارګاه قهار، او جبار نه چه کله داسې مقدس او پاکیزه خلق دومره یریږی. نو بیا مونږ غوند ګنهګارو لره څومره یریدل پکار دی. مګر صد افسوس دے. چه زمونږ نه د هغهٔ د یریدو حق ادا کیدے نهٔ شی.

[3] صبا هغه هوا ده. چه هغه د مشرق د طرفنه راځی چه هغے ته پروویلے شی. او دَبور هغه هوا ده چه هغه د مغرب د طرفنه راځی او هغے ته پچهاؤ ویلے شی.

كِتَابُ الْكُسُوفِ

د کُسُوف بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَأَطَالَ الْقِيَامَ جِدًّا ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ جِدًّا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَأَطَالَ الْقِيَامَ جِدًّا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ جِدًّا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَقَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ فَخَطَبَ النَّاسَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ مِنْ آيَاتِ اللهِ وَإِنَّهُمَا لَا يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمَا فَكَبِّرُوا وَادْعُوا اللهَ وَصَلُّوا وَتَصَدَّقُوا يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ إِنْ مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ أَنْ يَزْنِيَ عَبْدُهُ أَوْ تَزْنِيَ أَمَتُهُ يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ وَاللهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَلَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا أَلَا هَلْ

حضرت عائشے رضی فرمایلی دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونیوو. پس هغهٔ په مانځهٔ اودریدو او د ډیر وخته پورے ولاړ وو. بیا ئے رکوع اوکړه. او ډیره اوږده رکوع ئے اوکړه. بیائے سر اوچت کړو او بنهٔ ساعت ولاړ وو. او ډیر قیام ئے اوکړو مگر د وړومبی قیام نه کم. بیائے رکوع اوکړه او اوږده رکوع ئے اوکړه مگر د وړومبۍ رکوع نه کمه. بیائے سجده اوکړه. (دا په یو رکعت کښې دوه رکوع شوے. او د شافعی رحمه الله دغه مذهب دے) بیا اودریدو. او د ډیر وخته پورے قیام ئے اوکړو. مگر د قیام اول نه کم بیائے رکوع اوکړه او اوږده رکوع ئے اوکړه مگر د وړومبۍ رکوع نه کمه بیائے سر اوچت کړو. او د ډیر وخته پورے ولاړ وو. مگر د وړومبی قیام نه کم بیائے رکوع اوکړه او اوږده رکوع ئے اوکړه مگر د وړومبۍ رکوع نه کمه (د اهم دوه رکوع شوے) بیائے سجده اوکړه او فارغ شو او نمر په دے کښې روښانه شو. بیا ئے خلقو ته خطبه اولوستله او د الله ثنا صفت ئے اوکړو او اوئے فرمایل. چه نمر او سپوږمۍ د نخښو (د قدرتوو) د الله پاک نه دی. او په دوی څهٔ تکلیف نهٔ پریوځی نهٔ د چا په مرګ سره او نهٔ د چا په ژوند سره. پس هر کله چه تاسو (دوارو لره) تور اووینئ نو د الله لوئی بیانوئ. او د هغهٔ نه دُعا غواړئ او مونځ کوئ او خیرات کوئ. اے اُمت د محمد (ﷺ) د الله نه زیات څوک غیرتی نشته دے په دے خبره کښې چه د هغه غلام یا وینځه زنا اوکړی. اے د محمد (ﷺ) اُمته! په الله قسم دے. کهٔ چرے تاسو ته علم وے د هغه څهٔ چه ما ته علم دے. نو ډیر به مو ژړلو او لږ به مو

بَلَغَتْ وَفِي رِوَايَةِ مَالِكٍ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ خَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَقَامَ وَكَبَّرَ وَصَفَّ النَّاسُ وَرَاءَهُ فَاقْتَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ قَامَ فَاقْتَرَأَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً هِيَ أَدْنَى مِنَ

خندلو. واورئ: اما د الله حکم راأورسوؤ. او د مالک په روایت کښې دادی چه نمر او سپوږمئ دواړه د الله د نخښو نه دوه نخښې دی[1].

د رسول الله ﷺ بی بی حضرت عائشې فرمایلی دی چه یو ځل د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کښې نمر تندر اونیوؤ. او هغهٔ جماعت ته راااووتو او په مانځهٔ اودریدو او الله اکبر ئې اووے او خلقو په هغه پسے صف جوړ کړو. او رسول الله ﷺ اوږد قراءت اولوستلو. بیائے الله اکبر اووئے. او ډیره اوږده رکوع ئې اوکړه. بیائے خپل سر اوچت کړو. او سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ئې اووے. او رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ او بیا اودریدو. او اوږد قرأت ئې اولوستهٔ چه د ړومبی قراءت نهٔ لږ کم وو. بیائے الله اکبر اووے. او دویمه رکوع ئې اوکړه چه د ړومبئ رکوع نه لږه کمه وه. بیائے اووے سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ. او

---

[1]: د علماؤ اجماع ده چه د خسوف مونځ سنت دے. او د امام مالک او شافعي او احمد رحمهم الله او د جمهورو مذهب دے چه په جماعت سره دِ دا ادا شی. او اهل عراق (یعنی احناف) ویلی دی چه دے لره دِ خانله خانله اوکړے شی مگر اول مذهب د صحیح احادیثو په وجه سره صحیح دے. او د امام شافعي رحمه الله مذهب دے. چه په هر رکعت کښې دوه رکوع کوی او دوه خله قیام کوی. مگر سجدے په هر رکعت کښې دغه دوه دی. او د حنفیانو په نیز په شان د نورو مونځونو په هر رکعت کښې یوه رکوع وی مگر د امام شافعي رحمه الله مذهب د احادیث صحیحه موافق دے. او ابن عبد البر رحمه الله هم دے ته صحیح ویلی دی. او په بعضو روایتونو کښې په هر رکعت کښې درے رکوع هم راغلی دی او څلور هم مگر د دوو راوی ډیر احفظ او اضبط دے. مگر قوی مذهب دادے چه په څهٔ شان له غواړی ادا دئے کړی باقی پاتے شوه سورة فاتحه. نو په اول قیام کښې خو په اتفاق د علماؤ لوستل ضروری او په دویم قیام کښې هم لوستل دا مذهب دے د شافعي رحمه الله او د مالک رحمه الله او د جمهورو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم. او د مالکی مذهب نه د محمد بن مسلمه دا قول دے. چه په دویم قیام کښې لوستل نه دی پکار. او اوږد قرات په اتفاق د علماؤ غوره دے. او قصر هم روا دے. او د سجدے د اوږد والی هم مُحَقِّقِین قائل دی. او تَعَوُّذ لوستل هم په هر قیام کښې د فاتحے نه مخکښې لوستل غوره دی. او دوه خطبے هم د مانځهٔ نه روستو مستحب دی. دا مذهب دے د شافعي او اسحاق او ابن جریر رحمهم الله او د فقهائے محدثینو. او د مالک او د ابوحنیفه رحمهما الله په نیز خطبه مستحب نهٔده. او د شافعي رحمه الله دلیل احادیث صحیحه دی. چه په صحیحین وغیره کښې راغلی دی.

مسلم رحمه الله ویلی دی او بیان کړے دے مونږ ته دا روایت یحیٰی بن یحیٰی هغهٔ ته ابو معاویه هغهٔ ته هشام عُروه د دغے سند سره او دائے زیات کړل چه هغه اوفرمایل روستو د حمد نه. بیشکه نمر او سپوږمئ د الله تعالی په نخښو کښې دی او دائے هم زیات کړل. چه بیا هغه دواړه لاسونه اوچت کړل. او اوئے فرمایل خبر شئ چه ما د الله پیغام اورسولو

الْقِرَاءَةِ الْأُولَى ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا هُوَ أَدْنَى مِنَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ سَجَدَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبُو الطَّاهِرِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ حَتَّى اسْتَكْمَلَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ وَانْجَلَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَنْصَرِفَ ثُمَّ قَامَ فَخَطَبَ النَّاسَ فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا فَافْزَعُوا لِلصَّلَاةِ وَقَالَ أَيْضًا فَصَلُّوا حَتَّى يُفَرِّجَ اللَّهُ عَنْكُمْ وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ فِي مَقَامِي هَذَا كُلَّ شَيْءٍ وُعِدْتُمْ حَتَّى لَقَدْ رَأَيْتُنِي أُرِيدُ أَنْ آخُذَ قِطْفًا مِنَ الْجَنَّةِ حِينَ رَأَيْتُمُونِي جَعَلْتُ أُقَدِّمُ وَقَالَ الْمُرَادِيُّ أَتَقَدَّمُ وَلَقَدْ رَأَيْتُ جَهَنَّمَ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَأَخَّرْتُ وَرَأَيْتُ فِيهَا ابْنَ لُحَيٍّ وَهُوَ الَّذِي سَيَّبَ السَّوَائِبَ وَانْتَهَى حَدِيثُ أَبِي الطَّاهِرِ عِنْدَ قَوْلِهِ فَافْزَعُوا لِلصَّلَاةِ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ

بیائے سجده اوکړه. او ابوطاهر راوی دا ذکر نه دے کړے. چه بیائے سجده اوکړه او په دویم رکعت کښې ئے دغه شان اوکړل ترد ے پورے چه په رکوع شو او څلور سجدے (یعنی په دوه رکعته کښې په هر رکعت کښې دوه رکوع شوے او دوه سجدے) او د هغهٔ د فارغ کیدو نه مخکښې نمر روښانه شوے وو. بیا هغهٔ اودریدو او خلقو ته ئے خطبه اولوستله. او د الله تعریف ئے اوکړو. په هغه لفظونو سره کوم چه د هغهٔ د شان لائق دی. بیائے اوفرمایل نمر او سپوږمۍ د الله د نخښو (د قدرت نه) دوه نخښے دی. او د چا د مرګ او ژوند په سبب سره په دوی کښې تغیر نهٔ راځی (یعنی صرف د الله په حکم سره کیږی) بیا چه کله تاسو تندر نیول اووینئ. نو زر مونځ کوئ او دائے هم فرمایلی دی چه ترد ے پورے مونځ ادا کوئ چه الله تعالی هغے لره ستاسو دپاسه نه کهولاؤ کړی. او هغهٔ فرمایلی دی چه ما هغه ځائے هغه ټول څیزونه اولیدل چه د کومے ستاسو سره وعده شوے ده. دغه رنګے ما خپل ځان اولیدهٔ چه غواړم چه یو غنچک یوسم په جنت کښې چه کله تاسو زهٔ لیدلے وم. چه زهٔ وړاندے تلے وم. او مراد راوی أَتَقَدَّمُ ویلے دے. معنی د دواړو یوه ده. او بیشکه ما جهنم لره اولیدهٔ. چه یوه ټکړه بلے لره شو کوی. کله چه تاسو زهٔ لیدلے وم چه زهٔ په شا واپس شوم او ما په جهنم کښې عمرو بن لُحَيّ اولیدهٔ (د یو سړی نوم دے) او هم هغه د ټولو نه مخکښې اوبنه د نذر دپاره پریخودے وه. د ابوطاهر راوی حدیث خو هغه ځائے ختم شو او د هغے نه پس ئے څهٔ ذکر نهٔ دے کړے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ الشَّمْسَ خَسَفَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ

حضرت عائشه فرمائی چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونیوؤ او هغهٔ په مدینه کښې یو آواز کولو والا اولیږو. چه داسے آواز

مُنَادِيًا الصَّلاَةُ جَامِعَةٌ فَاجْتَمَعُوا وَتَقَدَّمَ فَكَبَّرَ وَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ

اوکړه چه تول خلق په جمع مونځ ادا کړئ غرض دا چه خلق جمع شول او هغهٔ مخکښې شو او تکبیر ئې اووے. (یعنی تکبیر اولی) او څلور رکوع ئې اوکړے. په دوو رکعتونو کښې او څلور سجدے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَهَرَ فِي صَلاَةِ الْخُسُوفِ بِقِرَاءَتِهِ فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ قَالَ الزُّهْرِيُّ وَأَخْبَرَنِي كَثِيرُ بْنُ عَبَّاسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ

أُمُّ المؤمنین حضرت عائشہؓ فرمائی چه د رسول الله ﷺ به د نمر د تندر نیولو په مانځهٔ کښې قراءت په زوره لوستهٔ او څلور رکوع ئې اوکړے او څلور سجدے. په دوو رکعتونو کښې. زهری وئیلی دی چه خبر راکړے دے ما ته کثیر ابن عباس د ابن عباسؓ نه چه نبی کریم ﷺ څلور رکوع اوکړے په دوو رکعتونو کښې او څلور سجدے ئې اوکړے.

مسلمؒ وئیلی دی. روایت کړے دے ما ته حاجب بن ولید هغهٔ ته محمد بن حرب هغهٔ ته محمد بن ولید هغهٔ ته زهری هغهٔ ته کثیر بن عباس هغهٔ ته ابن عباسؓ بیان کړے دے. چه مونځ د رسول الله ﷺ د نمر د تندر په ورځ لکه عروه د حضرت عائشےؓ نه

عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ يَقُولُ حَدَّثَنِي مَنْ أُصَدِّقُ حَسِبْتُهُ يُرِيدُ عَائِشَةَ أَنَّ الشَّمْسَ انْكَسَفَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ قِيَامًا شَدِيدًا يَقُومُ قَائِمًا ثُمَّ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُومُ ثُمَّ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُومُ ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ فِي ثَلاَثِ رَكَعَاتٍ وَأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ فَانْصَرَفَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ وَكَانَ إِذَا رَكَعَ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ ثُمَّ يَرْكَعُ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقَامَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لاَ يَكْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ وَلَكِنَّهُمَا

عبید بن عمیر وئیلی دی چه روایت کړے دے ما ته هغه بنده چه هغهٔ لره زهٔ ربښتونے ګڼړم. مراد د هغه بنده نه حضرت عائشہؓ وه. چه یو ځل نمر تندر اونیوؤ د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې. او هغه په مانځهٔ کښې د ډیر وخته پورے اودریدو. په دے شان چه یو ځل به اودریدو بیا به ئې رکوع اوکړه. بیا به اودریدو بیا به ئې رکوع اوکړه. غرض دا چه اوکړل ئې دوه رکعته چه په هر رکعت کښې درے رکوع وے. او په دواړو رکعتونو کښې څلور سجدے. او کله چه فارغ شو نو نمر روښانه شوی وو. او کله چه به ئې رکوع کوله نو الله اکبر به ئې اووے بیا به رکوع له تلو. او کله چه به ئې سر اوچتولو نو سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ به ئې وئیلو او روستو د مانځهٔ نه د خطبے دپاره اودریدو. او د الله تعالی حمدوثنا ئې اوکړه بیائے اوفرمایل چه په نمر او سپوږمۍ کښې د چا د مرګ یا ژوند

مِنْ آيَاتِ اللهِ يُخَوِّفُ اللهُ بِهِمَا عِبَادَهُ فَإِذَا رَأَيْتُمْ كُسُوفًا فَاذْكُرُوا اللهَ حَتَّى يَنْجَلِيَا

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى سِتَّ رَكَعَاتٍ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ

عَنْ عَمْرَةَ أَنَّ يَهُودِيَّةً أَتَتْ عَائِشَةَ تَسْأَلُهَا فَقَالَتْ أَعَاذَكِ اللهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ يُعَذَّبُ النَّاسُ فِي الْقُبُورِ قَالَتْ عَمْرَةُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَائِذًا بِاللهِ ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ مَرْكَبًا فَخَسَفَتِ الشَّمْسُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَخَرَجْتُ فِي نِسْوَةٍ بَيْنَ ظَهْرَيِ الْحُجَرِ فِي الْمَسْجِدِ فَأَتَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَرْكَبِهِ حَتَّى انْتَهَى إِلَى مُصَلَّاهُ الَّذِي كَانَ يُصَلِّي فِيهِ فَقَامَ وَقَامَ النَّاسُ وَرَاءَهُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا ثُمَّ رَكَعَ فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ ذَلِكَ الرُّكُوعِ ثُمَّ رَفَعَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ فَقَالَ إِنِّي قَدْ رَأَيْتُكُمْ تُفْتَنُونَ فِي الْقُبُورِ كَفِتْنَةِ الدَّجَّالِ قَالَتْ عَمْرَةُ فَسَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ فَكُنْتُ أَسْمَعُ

په سبب سره تغیر نۀ راځي. بلکه دا د الله دنخښو نه دے. چه په هغې سره الله ؐ یروي مخلوق لره. بیا چه کله تاسو تندر نیول اووینئ نو الله لره یادوئ تر دے پورے چه دواړه صفا روښانه شي.

حضرت عائشے ؓ فرمایلي دي چه نبي کریم ﷺ شپږ رکوع اوکړلے ریعنی په دوه رکعته کښې او څلور سجدے.

د عمرهؓ نه روایت دے چه یو یهودي ښځه حضرت عائشےؓ له راغله او سوال ئے شروع کړو او هغے اووے الله تعالی د تا د عذاب قبر نه بچ کړی. حضرت عائشهؓ فرمائي چه ما عرض اوکړو چه اے د الله رسولهؐ ولے خلقو ته په قبر کښې عذاب وی؟ عمره ویلي دي چه حضرت عائشهؓ فرمائي. چه رسول الله ﷺ اوفرمایل. پناه غواړم په الله سره. بیا سور شو رسول الله ﷺ یوه ورځ سحر په یوه سورلئ باندے او نمر تندر اونیوو. حضرت عائشهؓ فرمائي چه زۀ هم را اووتم او د ښځو سره د حجرو په شا باندے جماعت ته راغلم او رسول الله ﷺ د خپلے سورلئ نه کوز شو او د خپل د مانځۀ د ځائے پورے ئے تشریف یوړو. کوم ځائے چه به ئے همیشه امامت کوو په مانځۀ کښې. او اودریدو او ډیر اوږد قیام ئے اوکړو. او خلق د هغۀ نه روستو اودریدل. حضرت عائشهؓ فرمائي. چه بیا هغه ډیر اوږد قیام اوکړو. بیا ئے رکوع اوکړه او اوږده رکوع ئے اوکړه بیا پاڅیدو او ډیر اوږد قیام ئے اوکړو مګر هغه د رومبي قیام نه لږ کم وو. بیائے رکوع اوکړه او اوږده رکوع ئے اوکړه مګر هغه د رومبئ رکوع نه لږه کمه وه. بیائے سره اوچت کړو او نمر روښانه شو او اوئے فرمایل چه ما تا سو لره اولیدل چه تاسو به په قبرونو کښې ازمائلے شئ لکه چه د دجال په وخت ازمایلے شئ. عمره ویلي دي چه ما د حضرت عائشےؓ نه اوریدلي دي چه فرمایلي ئے وو. چه ما د هغے نه پس

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ يَتَعَوَّذُ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ

واؤریدل. چه رسول الله ﷺ پناه غوښتله د دوزخ د عذاب نه او د قبر د عذاب نه

مسلم ویلی دی. او روایت کړے دے مونږ ته دا حدیث محمد بن مثنٰی هغهٔ ته عبد الوهاب اوویلی دی مسلم چه بیان کړے دے مونږ ته دغه روایت ابن ابی عمر هغهٔ ته سفیان، دواړو د یحیٰی بن سعید نه د دغے اسناد سره د سلیمان بن بلال د روایت په مثل.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَوْمٍ شَدِيدِ الْحَرِّ فَصَلّٰى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصْحَابِهِ فَأَطَالَ الْقِيَامَ حَتّٰى جَعَلُوا يَخِرُّونَ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قَامَ فَصَنَعَ نَحْوًا مِنْ ذَاكَ فَكَانَتْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ ثُمَّ قَالَ إِنَّهُ عُرِضَ عَلَيَّ كُلُّ شَيْءٍ تُولَجُونَهُ فَعُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ حَتّٰى لَوْ تَنَاوَلْتُ مِنْهَا قِطْفًا أَخَذْتُهُ أَوْ قَالَ تَنَاوَلْتُ مِنْهَا قِطْفًا فَقَصُرَتْ يَدِي عَنْهُ وَعُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ فَرَأَيْتُ فِيهَا امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ وَرَأَيْتُ أَبَا ثُمَامَةَ عَمْرَو بْنَ

جابر بن عبد الله ویلی دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونیوۀ او په هغه ورځو کښې ډیره ګرمي وه بیا رسول الله ﷺ د خپلو یارانو سره مونځ لره اوکړو. او ډیر اوږد قیام ئے اوکړو. تر دے پورے چه خلق رالویدۀ. بیائے رکوع اوکړه او اوږده رکوع ئے اوکړه. بیائے سر اوچت کړو. او اوږد قیام ئے اوکړه. بیائے رکوع اوکړه او اوږد قیام ئے اوکړو. بیائے دوه سجدے اوکړے. بیا اودریدو او په دے شان ئے اوکړو. غرض دا چه څلور رکوع شوے او څلور سجدے. (یعنی په دوه رکعته کښې) بیائے اوفرمایل چه څو څیزونه داسے دی چه هغے ته به تاسو ځئ (یعنی دوزخ او جنت او قبر او حشر وغیره) هغه ټول ښما مخے ته راغلل. او جنت څو داسے مخے ته راغے چه کۀ چرے ما د هغے نه یوه غنچه شوکولے نو ضرور م شوکولے شوه. یائے اوفرمایل چه ما د هغے نه یو غنچه شوکول غوښتل خو ښما لاس ورته نۀ رسیدۀ. او دوزخ ښما مخے ته راغے. او د بنی اسرائیلو یوے ښځے لره م پکښې اولیده. چه د یوے پیشو په وجه سره هغے لره عذاب ورکیدے شو. چه هغے یوے پیشو لره تړلے وه. چه هغے لره ئے نۀ خوراک ورکوو او نۀ ئے هغه پریخوده چه د زمکے چینجي مینجي ئے خوړلے وے. او په دوزخ کښې م ابوثمامه عمرو بن مالک لره اولیدو. چه خپلے کُلمے ئے په دوزخ کښې

مَالِكٍ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ وَإِنَّهُمْ كَانُوا يَقُولُونَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لاَ يَخْسِفَانِ إِلاَّ لِمَوْتِ عَظِيمٍ وَإِنَّهُمَا آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ يُرِيكُمُوهُمَا فَإِذَا خَسَفَا فَصَلُّوا حَتَّى تَنْجَلِيَ

رابنکودے. او د عربو دا خیال وو چه نمر او سپوږمۍ تندر نهٔ نیسی مګر د چا لوئی سړی په مرګ سره. او هغهٔ اوفرمایل چه هغه دواړه د الله د نخښو نه دوه نخښې دی چه هغې له تاسو ته ښائی. بیا چه کله دغه دواړه تندر اونیسی . نو تاسو مونځ کوئ د کومې پورې چه هغه روښانه شوی نهٔ وی.

مسلم ؒ ویلی دی چه بیان کړے دے دا روایت ماته ابوغسان مسمعی ، هغهٔ ته عبدالمالک هغهٔ ته هشام ددغې اسناد سره مثل د هغې . مګر په دے کښې دادی چه اولیده ما یوه ښځه لوئې آواز والا اوږده توره . او دائې نهٔ دی فرمایلی. چه هغه په بنی اسرائلو کښې وه[1].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّاسُ إِنَّمَا انْكَسَفَتْ لِمَوْتِ إِبْرَاهِيمَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ بَدَأَ فَكَبَّرَ ثُمَّ قَرَأَ فَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ ثُمَّ رَكَعَ نَحْوًا مِمَّا قَامَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَرَأَ قِرَاءَةً دُونَ الْقِرَاءَةِ الأُولَى ثُمَّ رَكَعَ نَحْوًا مِمَّا قَامَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَرَأَ قِرَاءَةً دُونَ الْقِرَاءَةِ الثَّانِيَةِ ثُمَّ

جابر ؓ ویلی دی یو ځل د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نمر تندر اونیوؤ. په هغه ورځ چه د هغهٔ ځوئ ابراهیم ؓ انتقال کړے وو. نو خلقو اووے چه د ابراهیم ؓ په مرګ سره نمر تندر اونیوؤ. او نبی کریم د خلقو سره اودریدو. او د څلورو سجدو سره ئې شپږ رکوع اوکړے. په دے شان چه مخکښې ئې الله اکبر اووے. او قرأت ئې اوکړو او اوږد قرأت ئې اوکړو. بیائې رکوع اوکړه قیام ته نژدے (یعنی په اوږد والی کښې) بیائې د رکوع نه سر اوچت کړو او قراءت ئې اوکړو د دویم قرأت نه کم بیائې رکوع اوکړه د قیام برابر بیائې رکوع اوکړه د قیام برابر. بیائې سر اوچت کړو او قیام ئې اوکړو. بیائې رکوع اوکړه. بیائې سر اوچت کړو او سجدے له لاړو او دوه سجدے ئې اوکړے. بیا اودریدو. او بیائې رکوع اوکړے درے رکوع چه په هغې کښې هره روستۍ رکوع د خپلې وړاندے رکوع

[1] ددے حدیث نه معلومه شوه چه په صغیره ګناه باندے هم بنده نیولے کیږی. او دا هم احتمال دے. چه هغه کافره وی د پیشو په سبب سره په هغې عذاب نور زیات شوے وی. یا مسلمانه وی. او سوا د دوزخ نه او اُور نهٔ څهٔ بل څهٔ قسم عذاب هغې له ورکیدے شو. دغه رنګې په حدیث کښې دا صفا نشته چه هغه په دوزخ کښې وه.

رَكَعَ نَحْوًا مِمَّا قَامَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ أَيْضًا ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ لَيْسَ فِيهَا رَكْعَةٌ إِلَّا الَّتِي قَبْلَهَا أَطْوَلُ مِنَ الَّتِي بَعْدَهَا وَرُكُوعُهُ نَحْوًا مِنْ سُجُودِهِ ثُمَّ تَأَخَّرَ وَتَأَخَّرَتِ الصُّفُوفُ خَلْفَهُ حَتَّى انْتَهَيْنَا وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى انْتَهَى إِلَى النِّسَاءِ ثُمَّ تَقَدَّمَ وَتَقَدَّمَ النَّاسُ مَعَهُ حَتَّى قَامَ فِي مَقَامِهِ فَانْصَرَفَ حِينَ انْصَرَفَ وَقَدْ آضَتِ الشَّمْسُ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ وَإِنَّهُمَا لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لِمَوْتِ بَشَرٍ فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ فَصَلُّوا حَتَّى تَنْجَلِيَ مَا مِنْ شَيْءٍ تُوعَدُونَهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي صَلَاتِي هَذِهِ لَقَدْ جِيءَ بِالنَّارِ وَذَلِكُمْ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَأَخَّرْتُ مَخَافَةَ أَنْ يُصِيبَنِي مِنْ لَفْحِهَا وَحَتَّى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَ الْمِحْجَنِ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ كَانَ يَسْرِقُ الْحَاجَّ بِمِحْجَنِهِ فَإِنْ فُطِنَ لَهُ قَالَ إِنَّمَا تَعَلَّقَ بِمِحْجَنِي وَإِنْ غُفِلَ عَنْهُ ذَهَبَ بِهِ وَحَتَّى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَةَ الْهِرَّةِ الَّتِي رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ

نه کمه وه. او هره رکوع د سجدے برابر وه. بیا هغه شاته شو او ټول صفونه د هغهٔ سره شاته واپس شول تردے پورے چه مونږ ښځو ته نږدے اورسیدو. بیا هغهٔ مخکښې شو او ټول خلق د هغهٔ سره ورمخکښې شو. (سُبحٰن الله! څومره اطاعت وو د رسول الله ﷺ) بیا هغه په خپل ځائے باندے اودریدو او د مانځهٔ نه اوزګار شو هغه وخت چه نمر روښانه شوے وو. بیائے اوفرمایل. اے خلقو! نمر او سپوږمۍ د الله د نخښو نه دوه نخښے دی. او بیشکه دغه دواړه د چا په مرګ سره تندر نهٔ نیسی. پس کله چه تاسو اووینئ د دے دواړو نه یو لره (په تندر نیولو سره) نو مونځ ادا کوئ تر هغے پورے چه هغه روښانه شی. او څهٔ څیز داسے نهٔ دے پاتے چه د هغے تاسو له وعده درکړے شوے ده. چه ما هغے لره په خپل مانځهٔ کښې لیدلے نهٔ وی. دغه رنګے دوزخ راغے. او هغه وخت راغے. چه کله تاسو زهٔ اولیدم چه روستو شوم د دے یرے نه چه چرته د هغے شغله په ما اونهٔ لګی. (سبحٰن الله دومره لوئے نبی لره چه الله په هغهٔ باندے رحمت کړے دے او سلام پرلیږی. د دوزخ نه دومره یره ده. بیا مونږ لره څومره لازم دی) او هغه تردے پورې نږدے شو چه ما په هغے کښې یو کوږ مخ لرګی والا لره اولیدو چه هغه خپل ځان راښکودو په اور کښې. او په دنیا کښې ئے د حاجیانو په دے شان غلا کوله چه هغهٔ به خپل لرګی کښې څهٔ څیز لره اونخلوو (یعنی څادر کپړه وغیره) کهٔ چرے د هغے مالک به خبر شو نو دهٔ به اووے چه دغه څیز څما د لرګی په کونډه کښې اونختلو او کهٔ چرے د هغه څیز مالک به غافله شو نو دهٔ به واخستو اولاړو به او تردے پورے چه ما هغه پیشو والا اولیده چه هغے پیشو لره تړلے وه او نهٔ ئے ورله خوراک ورکوو او نهٔ ئے پریخوده چه هغے پخپله د زمکے چینجی وغیره خوړلے وے.

مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا ثُمَّ جِيءَ بِالْجَنَّةِ وَذٰلِكُمْ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَقَدَّمْتُ حَتّٰى قُمْتُ فِي مَقَامِي وَلَقَدْ مَدَدْتُ يَدِي وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَتَنَاوَلَ مِنْ ثَمَرِهَا لِتَنْظُرُوا إِلَيْهِ ثُمَّ بَدَا لِي أَنْ لَا أَفْعَلَ فَمَا مِنْ شَيْءٍ تُوعَدُونَهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي صَلَاتِي هٰذِهِ

تردے پورے چه د لوږے نه مړه شوه. بیا جنت خما مخے ته راغے او هغه، هغه وخت راغے. کله چه تاسو زهٔ اولیدم چه ورمخکښې شوم تردے پورے چه زهٔ په خپل ځائے باندے لاړم او دریدم او ما خپل لاس وړوړدے کړو او غوښتل مے چه د هغے نه څهٔ میوے رااوشوکوم. چه تاسوئے اووینئ بیا ما خیال اوکړو چه نهٔ کوم. غرض دا چه د کومو څیزونو تاسو لره وعده درکړے شوے ده په هغے کښې یو څیز داسی نهٔ دے پاتے چه هغه ما په خپل مانځهٔ کښې لیدلے نهٔ وی.

عَنْ أَسْمَاءَ ؓ قَالَتْ خَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ ؓ وَهِيَ تُصَلِّي فَقُلْتُ مَا شَأْنُ النَّاسِ يُصَلُّونَ فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا إِلَى السَّمَاءِ فَقُلْتُ آيَةٌ قَالَتْ نَعَمْ فَأَطَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقِيَامَ جِدًّا حَتّٰى تَجَلَّانِي الْغَشْيُ فَأَخَذْتُ قِرْبَةً مِنْ مَاءٍ إِلٰى جَنْبِي فَجَعَلْتُ أَصُبُّ عَلٰى رَأْسِي أَوْ عَلٰى وَجْهِي مِنَ الْمَاءِ قَالَتْ فَانْصَرَفَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ فَخَطَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ مَا مِنْ شَيْءٍ لَمْ أَكُنْ رَأَيْتُهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي مَقَامِي هٰذَا حَتَّى الْجَنَّةَ وَالنَّارَ وَإِنَّهُ قَدْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي الْقُبُورِ قَرِيبًا أَوْ مِثْلَ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ لَا أَدْرِي أَيَّ ذٰلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ

اسماء ؓ وئیلی دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونیوؤ. او زهٔ د حضرت عائشے ؓ خواله لاړم. هغے مونځ کولو. نو ما اووے چه د خلقو څهٔ حال دے چه مونځ لره ادا کوی. نو هغوی په خپل سر سره آسمان ته اشاره اوکړه. ما اووے. یو نخښه ده (یعنی د الله د قدرت) هغوی په اشاره سره اووے آو. (ددے نه معلومه شوه چه په مانځهٔ کښې د ضرورت په وخت اشاره جائز ده) بیا رسول الله ﷺ ډیر اوږد قیام اوکړو. چه په ما باندے بیهوشی راغله او ما د یو مشک نه چه خما ډدے ته وو په خپل سر او مخ باندے اوبهٔ اچول شروع کړل او رسول الله ﷺ د مانځهٔ نه فارغ شو او نمر روښانه شو. نو رسول الله ﷺ خطبه اولوستله او د الله حمد او ثنائے اوکړه. بیائے د هغے نه پس اووے. یو څیز داسے نهٔ دے پاتے چه هغے لره مخکښې لیدلے نهٔ وو مګر دلته ما هغے لره په ولاړے ولاړے اولیدهٔ. تردے پورے چه ما جنت او دوزخ لره اولیدهٔ. او خما په طرف وحی رااولیږلے شوه. چه تاسو به په قبرونو کښې ازمائلے شئ لکه چه دجال د فتنے سره به ازمائلے شئ. او هر یو ته به یو سړے راځی او وائی به چه تهٔ دے سړی لره پیژنے؟ پس کهٔ چرے قبر والا مؤمن

فَيُؤْتَى أَحَدُكُمْ فَيُقَالُ مَا عِلْمُكَ بِهَذَا الرَّجُلِ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ أَوِ الْمُوقِنُ لَا أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ فَيَقُولُ هُوَ مُحَمَّدٌ هُوَ رَسُولُ اللَّهِ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى فَأَجَبْنَا وَأَطَعْنَا ثَلَاثَ مِرَارٍ فَيُقَالُ لَهُ نَمْ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ إِنَّكَ لَتُؤْمِنُ بِهِ فَنَمْ صَالِحًا وَأَمَّا الْمُنَافِقُ أَوِ الْمُرْتَابُ لَا أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ فَيَقُولُ لَا أَدْرِي سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ شَيْئًا فَقُلْتُ

دے. پس وائی به هغه محمد ﷺ دے. د الله رالیږلے شوی او په هغهٔ باندے رحمت کړے دے او سلامتی هغهٔ مونږ ته د ښکاره معجزو او نیغے لارے خبر راوړے راغلے دے. او مونږ د هغهٔ احادیث قبول کړی دی. او د هغهٔ وینا مومنلے ده. درے ځله به هغه دغه جواب ورکړی. بیا به هغه (یعنی فرښته) هغهٔ ته اووائی چه ته اوده شه. او مونږ ته معلومه وه چه ته ایماندار ئے نو ښهٔ په آرام اوده شه. او منافق به اووائی (یعنی فرښتے ته) چه زهٔ نهٔ پیژنم. ما به د خلقو نه اوریدل څهٔ به ئے وے نو ما به هم وے[1]

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا قَالَتْ فَزِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَالَتْ تَعْنِي يَوْمَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ فَأَخَذَ دِرْعًا حَتَّى أُدْرِكَ بِرِدَائِهِ فَقَامَ لِلنَّاسِ قِيَامًا طَوِيلًا لَوْ

د ابوبکر ؓ لور بی بی اسماء ؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ یوه ورځ اوبَریدهٔ. مراد دا وو چه په کومه ورځ نمر تندر نیولے وو. او هغهٔ د یرے نه د یوے ښځے لوئے څادر پسر کړو. او روان شو. تردے پورے چه د هغے څادر ئے هغے له راوړو ورئے کړو. او په مانځهٔ کښې

[1] دا چه ئے کوم اووے. چه ما به د خلقو نه اوریدلو څهٔ به چه ئے ویلو. نو ما به هم ویل. یعنی د خلقو په کتلو ویلو کښې به ما هم څهٔ ویلو. یو امر د تحقیق نه خما په یقین کښې نهٔ وو. معلومه شوه چه سری د مضمون رسالت د زړهٔ نه تحقیق او تصدیق نهٔ کولو.

کسوف او خسوف د دواړو معنی یوه ده. او د سپوږمۍ او د نمر د دواړو دپاره دواړه لفظونه ویل صحیح دی. او یو قول ضعیف داڅه ے. چه د نمر دپاره کسوف ویل پکار دی. او د سپوږمۍ دپاره خسوف ویل. او قاضی عیاض رحمه الله ددے نه خلاف دعوه کړے ده. مګر د هغهٔ قول په دے آیت سره رد کیږی. وَخَسَفَ الْقَمَرُ. او د جمهور اهل علمو قول دے چه خسوف او کسوف دواړه جائز دی. چه پوره تور نهٔ وی او څهٔ رنړا پکښې باقی پاتے وی. او بعضو ویلی دی چه خسوف هغه دے چه په هغے کښې لږ شان رنګ بدل شی. او کسوف هغه دے چه پوره تغیر پکښې راشی. خواه کهٔ په سپوږمۍ کښې وی. او خواه کهٔ په نمر کښې وی. او امام لیث ؒ ویلی دی چه خسوف هغه دے چه هغه په پوره کښې وی. او کسوف هغه دے چه په لږه کښې وی. او دا قول د عروه دے کوم چه پورته ذکر شو. ددے هغه قائل دے بل څوک ئے قائل نهٔ دی.

مسلم رحمه الله ویلی دی. روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر او ابوکریب، دواړو د ابواسامه نه. هغهٔ د هشام رحمه الله نه، هغهٔ د فاطمے رضی الله عنها نه، هغے د اسماء رضی الله عنهانه روایت کړے دے چه هغوی وائی. چه زهٔ د حضرت عائشے رضی الله عنها خواله راغلم او خلقو لره م ولاړ اولیدل. او هغے مونځ کولو. نو ما اووے څهٔ حال دے د خلقو؟ او بیان ئے کړو حدیث د ابن نمیر د حدیث په مثل چه هغوی د هشام نه روایت کړے دے.

أَنَّ إِنْسَانًا أَتَى لَمْ يَشْعُرْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكَعَ مَا حَدَّثَ أَنَّهُ رَكَعَ مِنْ طُولِ الْقِيَامِ

دومره وخت اودریدو. چه کهٔ چرے یو بنده به راتلو نو دا به ئے نهٔ گنړله چه هغهٔ رکوع کړے ده. څنګه رکوع د هغهٔ نه مروی دی. د ډیرو اودریدو په وجه سره.

مسلمؒ ویلی دی چه روایت کړے دے ما ته سعید بن یحیٰی هغهٔ ته د هغهٔ پلار هغهٔ ته ابن جریج د دغے اسناد سره په مثل د دے او په دے کښ ئے دا ویلی دی چه په ولاړے به د ډیر وخته پوری ولاړ وو. بیا به ئے رکوع کوله او دائے هم زیاته کړه چه اسماءؓ ویلی دی چه ما کتلو یوے ښځے ته چه هغه څما نه بوډئ وه. او بلے ته چه هغه څمانه زیاته ناجوړه وه.

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَزِعَ فَأَخْطَأَ بِدِرْعٍ حَتَّى أُدْرِكَ بِرِدَائِهِ بَعْدَ ذَلِكَ قَالَتْ فَقَضَيْتُ حَاجَتِي ثُمَّ جِئْتُ وَدَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا فَقُمْتُ مَعَهُ فَأَطَالَ الْقِيَامَ حَتَّى رَأَيْتُنِي أُرِيدُ أَنْ أَجْلِسَ ثُمَّ أَلْتَفِتُ إِلَى الْمَرْأَةِ الضَّعِيفَةِ فَأَقُولُ هَذِهِ أَضْعَفُ مِنِّي فَأَقُومُ فَرَكَعَ فَأَطَالَ الرُّكُوعَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَأَطَالَ الْقِيَامَ حَتَّى لَوْ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ خُيِّلَ إِلَيْهِ أَنَّهُ لَمْ يَرْكَعْ

اسماءؓ دغه مضمون لره روایت کړے دے کوم چه پورته تیر شو. او د هغے نه پس ئے اووے چه ما خپل حاجت پوره کړو او جماعت ته راغلم او رسول اللهﷺ مے اولیدهٔ چه په مانځهٔ ولاړ دے. نو زهٔ هم د هغهٔ سره اودریدم. او ډیر اوږد قیام ئے اوکړو ترد ے پورے چه ما خپل ځان ته کتل او زړهٔ م غوښتله چه کینم او یوه کمزورے ښځه مے اولیده نو ما په زړهٔ کښ اووے چه دا خو څمانه هم زیاته کمزورے ده. بیا هغهٔ رکوع اوکړه او ډیره اوږده رکوع ئے اوکړه او بیائے خپل سر اوچت کړو او اوږد قیام ئے اوکړو. ترد ے پورے چه کهٔ چرے یو سړے بل راتلے. نو دا به ئے ګنړله چه هغهٔ اوس هم رکوع نهٔ ده کړے (یعنی قومه د قیام برابر وه)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا قَدْرَ نَحْوِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ

ابن عباسؓ وائی چه د رسول اللهﷺ په زمانه مبارک کښ نمر تندر اونیوؤ. او هغه د خلقو سره مونځ ادا کړو او ډیر اوږد قیام ئےاوکړو د سورهٔ بقرے برابر. بیائے ډیره اوږده رکوع اوکړه. بیائے سر اوچت کړو او ډیر اوږد قیام ئے اوکړو. مګر د رومبی نه لږ کم وو. بیائے رکوع اوکړه اوږده او هغه د رومبئ رکوع نه لږه کمه وه. بیائے سجده اوکړه. بیائے

قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ فَقَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لاَ يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ هَذَا ثُمَّ رَأَيْنَاكَ كَفَفْتَ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُ الْجَنَّةَ فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُودًا وَلَوْ أَخَذْتُهُ لأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا وَرَأَيْتُ النَّارَ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ قَالُوا بِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ بِكُفْرِهِنَّ قِيلَ أَيَكْفُرْنَ بِاللَّهِ قَالَ بِكُفْرِ الْعَشِيرِ وَبِكُفْرِ الإِحْسَانِ لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ

قیام اوکړو اوږد او هغه د ړومبی قیام نه لږ کم وو. بیائے رکوع اوکړه اوږده. او د ړومبۍ رکوع نه کمه وه. بیائے سر اوچت کړو بیائے قیام اوکړو اوږد مګر هغه د ړومبی قیام نه کم وو. بیائے رکوع اوکړه اوږده او هغه د ړومبۍ رکوع نه کمه وه. بیائے سجده اوکړه او د مانځهٔ نه اوزګار شو. او نمر روښانه شو. او اوئے فرمایل چه نمر او سپوږمۍ دواړه د الله د نخښو نه دوه نخښے دی چه تندر نه نیسی دوی لره د چا په مرګ سره او نهٔ د چا په ژوند سره. بیا چه کله تاسو دے دواړي لره (تندر نیولی) اووینئ نو الله لره یادوئ بیا خلقو عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! مونږ خو تهٔ اولیدے چه تا په دغه ځائے باندے څهٔ واخستل. بیا مونږ اولیدے چه اودریدے. نو حضرت اوفرمایل م اجنت لره اولیدو. او د هغے نه مے یو ګنګورے واخستو. کهٔ چرے ما هغے لره شو کولے وے. نو د کومے پورے چه دنیا باقی پاتے وے نو تاسو به هغے لره خوړلو. او ما دوزخ لره اولیدو پس د نن ورځے برابر ما هغے لره چرته نهٔ وو لیدلے. او اکثر اوسیدونکی مے په هغی کښ ښځے اولیدے. خلقو عرض اوکړو دا ولے اے د الله رسوله! هغهٔ اوفرمایل د هغوی د ناشکرۍ په وجه سره. خلقو عرض اوکړو. ولے هغه د الله ناشکری کوی؟ حضرت اوفرمایل. د خاوند ناشکری کوی. او احسان ئے نهٔ منی. کهٔ چرے د تولے دنیا په هغے باندے احسان اوکړی بیا دغه ښځه چه د خاوند د طرفنه د خپلے مرضۍ خلاف څهٔ خبره اووینی. نو اووائی. چه ما ستا نه چرته څهٔ نیکی نهٔ ده لیدلے.

مسلم ویلی دی. او بیان کړے دے مونږ ته دا روایت محمد بن رافع هغهٔ ته اسحٰق یعنی ابن عیسیٰ. هغهٔ ته مالک هغهٔ ته زید بن اسلم ددغے اسناد سره په مثل دهغے. صرف دومره ئے اووے چه هغوی ویلی

بَابُ ذِكْرِ مَنْ قَالَ اِنَّه رَكَعَ ثَمَانِ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجْدَاتٍ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ وَعَنْ عَلِيٍّ مِثْلُ ذٰلِكَ

بَابُ ذِكْرِ النِّدَاءِ بِصَلٰوةِ الْكُسُوفِ الخ

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِؓ أَنَّهُ قَالَ لَمَّا انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ نُودِيَ الصَّلَاةَ جَامِعَةً فَرَكَعَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ رَكْعَتَيْنِ فِي سَجْدَةٍ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي سَجْدَةٍ ثُمَّ جُلِّيَ عَنِ الشَّمْسِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ مَا رَكَعْتُ رُكُوعًا قَطُّ وَلَا سَجَدْتُ سُجُودًا قَطُّ كَانَ أَطْوَلَ مِنْهُ

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهِمَا عِبَادَهُ وَإِنَّهُمَا لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَصَلُّوا وَادْعُوا اللّٰهَ حَتّٰى يُكْشَفَ مَا بِكُمْ

عَنْ أَبِي مُوسٰى قَالَ خَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ فَزِعًا يَخْشٰى أَنْ تَكُونَ السَّاعَةُ حَتّٰى أَتَى الْمَسْجِدَ فَقَامَ يُصَلِّي

دی ثُمَّ رَأَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ. یعنی بیا اولیدو مونږ هغهٔ لره چه روستهٔ شو.

باب : په باره د هغه چا کښ چه وائی چه اتهٔ رکوع دی په څلور سجدو سره یعنی دوه رکعته

ابن عباسؓ ویلی دی چه کله به نمر تندر اونیوؤ نو رسول الله ﷺ به اتهٔ رکوع اوکړے. او څلور سجدے (یعنی په دوه رکعته کښ) او د حضرت علیؓ نه هم د دے په مثل مروی دے.

باب : د کسوف مانځهٔ لپاره اواز کول

عبد الله بن عمر بن عاصؓ ویلی دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ نمر تندر اونیوؤ. او آواز اوشو چه ټول په جمع سره مونځ اوکړی. او هغهٔ دوه رکعتونه اوکړل. او په هر رکعت کښ ئے دوه رکوع اوکړے. بیا نمر روښانه شو. حضرت عائشےؓ فرمایلی دی چه ما چرته هم دومره اوږدے رکوع او سجدے نهٔ دی کړی.

ابومسعود انصاریؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه بیشکه نمر او سپوږمئ دواړه نخښے دی د اللهؓ د نخښو نه چه الله په دے خپل بندیګان یره وی. او هغه د چا د مرګ په سبب سره تندر نهٔ نیسی. بیا چه کله تاسو په دوئ کښ تندر اووینئ نو مونځ کوئ او د الله نه دُعا غواړئ تر دے پورے چه الله دغے بلا لره ستاسو نه لرے کړی.

ابو موسیٰؓ ویلی دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ نمر تندر اونیوؤ. نو هغهٔ اویریدهٔ او پاڅیدو چه قیامت راغے. او جماعت ته راغے. او په ولاړے ئے مونځ شرع کړو. چه په هغے کښ قیام او رکوع

بِأَطْوَلِ قِيَامٍ وَرُكُوعٍ وَسُجُودٍ مَا رَأَيْتُهُ يَفْعَلُهُ فِي صَلَاةٍ قَطُّ ثُمَّ قَالَ إِنَّ هَذِهِ الْآيَاتِ الَّتِي يُرْسِلُ اللهُ لَا تَكُونُ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلَكِنَّ اللهَ يُرْسِلُهَا يُخَوِّفُ بِهَا عِبَادَهُ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ الْعَلَاءِ كَسَفَتِ الشَّمْسُ وَقَالَ يُخَوِّفُ عِبَادَهُ

او سجده ډیره اوږده وه. چه ما دومره اوږده (سجده) د هغهؐ په یو مانځهٔ کښې نهٔ وه لیدلې. بیائې اوفرمایل چه دا نخښې دی چه رالیږی دے لره الله پاک دا د چا د ژوند او مرګ په سبب سره نهٔ کیږی بلکه الله تعالی په دے خپل بندیګان یره وی. بیا چه هر کله داسے څهٔ اووینئ نو د اللهؐ نه یره کوئ او هغه یادوئ او د هغهٔ نه دُعا کوٴ او د هغهٔ نه بخښنه غواړئ او د ابن علاء په روایت کښې د کسفت لفظ دے. او دا دے چه الله تعالی یره وی خپلو بندیګانو لره.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا أَرْمِي بِأَسْهُمِي فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذِ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهُنَّ وَقُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى مَا يَحْدُثُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي انْكِسَافِ الشَّمْسِ الْيَوْمَ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَدْعُو وَيُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ حَتَّى جُلِّيَ عَنِ الشَّمْسِ فَقَرَأَ سُورَتَيْنِ وَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ

عبد الرحمٰن بن سمرهؓ ویلی دی چه ما غشی غورځول د رسول اللهﷺ په ژوند کښې چه نمر به تندر اونیوؤ. او ما غشو لره اوغورځول او په زړهٔ کښې مے اووے چه ګورم چه رسول اللهﷺ به کوم یو نوے کار کوی نن ورځ د نمر په تندر نیولو کښې. زهٔ چه د هغهٔ خواته اورسیدم نو هغهٔ دواړه لاسونه اوچت کړی وو او دُعائے غوښتله او الله اکبر ئے ویل او د الله حمد و ثنائے کوله او لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ئے وے. تر دے پورې چه نمر رڼرا شو. او هغهؐ دوه رکعته اوکړل او دوه سورتونه ئے اولوستل[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

عبد الرحمٰن بن سمرهؓ چه د رسول اللهﷺ صحابی دے. هغهٔ ویلی دی چه ما په مدینه کښې د غشو د ویشتو مشق کولو د پیغمبرﷺ

---

[1] د دے روایت نه ظاهراً دا معلومیږی چه هغه د نمر د تندر د ختمیدو نه پس مونځ ادا کړو. مګر دا مراد نهٔ دے. مګر روایت کونکی مضمون وړاندے روستو روایت کړو. هر فعل ئے د هغهٔ صلعم په جمع سره اوکړو. او چونکه په دویم روایت کښې د هغهٔ صلعم نه راغلی دی چه هغهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته چه کله اورسیدو. نو هغهٔ صلعم مونځ کولو. خکه دا شبه ختمه شوه. چه روستو د کسوف نه هغهٔ صلعم مونځ کړے دے. او د اخر په دوه قیامونو کښې ئے دوه سورتونه اولوستل په اخری رکعت کښې. او مونځ د تندر د نیوؤ په وخت شروع شو او د تندر د ختمیدو په وخت ختم شو. د ټولو روایتونو د میلاویدو نه دغه معلومیږی.

بِأَطْوَلِ قِيَامٍ وَرُكُوعٍ وَسُجُودٍ مَا رَأَيْتُهُ يَفْعَلُهُ فِي صَلَاةٍ قَطُّ ثُمَّ قَالَ إِنَّ هَذِهِ الْآيَاتِ الَّتِي يُرْسِلُ اللَّهُ لَا تَكُونُ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلَكِنَّ اللَّهَ يُرْسِلُهَا يُخَوِّفُ بِهَا عِبَادَهُ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ الْعَلَاءِ كَسَفَتِ الشَّمْسُ وَقَالَ يُخَوِّفُ عِبَادَهُ

او سجده ډیره اوږده وه. چه ما دومره اوږده (سجده) د هغهٔ په یو مانځهٔ کښې نهٔ وه لیدلې. بیائې اوفرمایل چه دا نخښې دی چه رالیږی دے لره الله پاک دا د چا د ژوند او مرګ په سبب سره نهٔ کیږی. بلکه الله تعالی په دے خپل بندیګان یره وی. بیا چه هر کله داسے څهٔ اووینئ نو د اللهؓ نه یره کوئ او هغه یادوئ او د هغهٔ نه دُعا کوء او د هغهٔ نه بخښنه غواړئ او د ابن علاء په روایت کښې د کسفت لفظ دے. او دا دے چه الله تعالی یره وی خپلو بندیګانو لره.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا أَرْمِي بِأَسْهُمِي فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهُنَّ وَقُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى مَا يَحْدُثُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي انْكِسَافِ الشَّمْسِ الْيَوْمَ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَدْعُو وَيُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ حَتَّى جُلِّيَ عَنِ الشَّمْسِ فَقَرَأَ سُورَتَيْنِ وَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ

عبد الرحمٰن بن سمرهؓ ویلی دی چه ما غشی غورځول د رسول الله ﷺ په ژوند کښې چه نمر به تندر اونیوؤ. او ما غشو لره اوغورځول او په زړهٔ کښې مے اووے چه ګورم چه رسول الله ﷺ به کوم یو نوے کار کوی نن ورځ د نمر په تندر نیولو کښې. زهٔ چه د هغهٔ خواته اورسیدم نو هغهٔ دواړه لاسونه اوچت کړی وو او دُعائے غوښتله او الله اکبرئے ویل او د الله حمد و ثنائے کوله او لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ئے ویلے. تردے پورې چه نمر رنړا شو. او هغهٔ دوه رکعته اوکړل او دوه سورتونه ئے اولوستل[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

عبد الرحمٰن بن سمرهؓ چه د رسول الله ﷺ صحابی دے. هغهٔ ویلی دی چه ما په مدینه کښې د غشو د ویشتو مشق کولو د پیغمبر ﷺ

---

[1] ددے روایت نه ظاهراً دا معلومیږی چه هغه د نمر د تندر د ختمیدو نه پس مونځ ادا کړو. مګر دا مراد نهٔ دے. مګر روایت کونکی مضمون وړاندے روستو روایت کړو. هر فعل ئے د هغهٔ صلعم په جمع سره اوکړو. او چونکه په دویم روایت کښې د هغهٔ صلعم نه راغلی دی چه هغهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته چه کله اورسیدو. نو هغهٔ صلعم مونځ کولو. خکه دا شبه ختمه شوه. چه روستو د کسوف نه هغهٔ صلعم مونځ کړے دے. او د آخر په دوه قیامونو کښې ئے دوه سورتونه اولوستل په آخری رکعت کښې. او مونځ د تندر د نیوؤ په وخت شروع شو او د تندر د ختمیدو په وخت ختم شو. د ټولو روایتونو د میلاویدو نه دغه معلومیږی.

كُنْتُ أَرْتَمِي بِأَسْهُمٍ لِي بِالْمَدِينَةِ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ كَسَفَتِ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهَا فَقُلْتُ وَاللهِ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى مَا حَدَثَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ قَائِمٌ فِي الصَّلَاةِ رَافِعٌ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يُسَبِّحُ وَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ وَيُكَبِّرُ وَيَدْعُو حَتَّى حُسِرَ عَنْهَا قَالَ فَلَمَّا حُسِرَ عَنْهَا قَرَأَ سُورَتَيْنِ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ

په زمانه کښې نو نمر تندر اونیوۀ. ما غشي اوغورځلو او په زړۀ کښې مې اووے چه په خدائے قسم زۀ به ګورم چه رسول الله ﷺ د نمر په تندر کښې څۀ کوي. نو پیغمبر ﷺ خواله راغلم نو هغوی په مانځۀ کښې لاسونه اوچت کړي وو. تسبیح ئې ویله او د الله حمد او لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ئې ووے او د الله لوئي ئې بیانوله او دُعا ئې غوښتله تر دے پورے چه نمر ښکاره شو. هغوی اووئیل کله چه نمر ښکاره شو نو هغوی دوه سورتونه اولوستل او دوه رکعته مونځ ئې اوکړو.[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يُخْبِرُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلٰكِنَّهُمَا آيَةٌ مِنْ آيَاتِ اللهِ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمَا فَصَلُّوا

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه خبر ورکړے دے چه هغۀ اوفرمایل. نمر او سپوږمۍ د چا په مرګ سره او د چا په ژوند سره تندر نۀ نیسي. بلکه هغه د الله تعالی د (قدرت) د نخښو نه دوه نخښې دي کله چه تاسو دوی لره (په تندر نیوۀ سره یو د دوارو نه) اووینئ نو مونځ کوئ.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يَقُولُ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمَا فَادْعُوا اللهَ وَصَلُّوا حَتَّى تَنْكَشِفَ

حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه فرمایلي دي. نمر تندر اونیوۀ د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې په کومه ورځ چه ابراهیم رضی الله عنه (د رسول الله ﷺ فرزند) وفات شو. نو رسول الله ﷺ اوفرمایل. بیشکه نمر او سپوږمۍ دوه نخښې دي د الله تعالی د (قدرت) د نخښو نه او تندر نۀ نیسي هغے لره د چا د مرګ په وجه سره او نۀ د چا د ژوند په وجه سره. پس کله چه تاسو دے لره اووینئ نو د الله تعالی نه دُعا غوارئ او مونځ ادا کوئ تر دے پورے چه په خپل اصلي حالت کښې شي.

---

[1] د دے نه صفا معلومه شوه چه هغه په مانځۀ کښې راغلے او میلاؤ شوے وو. لکه چه مونږ پورته ویلي وو.

كِتَابُ الجَنَائِزِ

د جنازو بیان [1]

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. چه خپلو بیمارانو ته کوم چه مرګ ته نږدے شی. د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تلقین کوئ [2].

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ تُصِيبُهُ مُصِيبَةٌ فَيَقُولُ مَا أَمَرَهُ اللهُ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَخْلَفَ اللهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا قَالَتْ فَلَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ مِنْ أَبِي سَلَمَةَ أَوَّلُ بَيْتٍ هَاجَرَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ إِنِّي قُلْتُهَا فَأَخْلَفَ اللهُ لِي

د اُمّ سلمه رضی الله عنها نه روایت دے. چه هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وو. چه هیڅوک مسلمان داسے نۀ دے چه هغۀ ته مصیبت اورسی او هغه دا اووائی. الله حکم کړے دے چه مونږ ټول د الله مال یو او مونږ ټول د هغۀ طرفته تلونکی یو. یا الله ! ما ته په دے مصیبت ثواب راکړے. او د دے په بدله کښې دد ے نه ښۀ راته راکړے. مګر الله تعالی دد ے نه غوره څیز هغۀ لره ورکوی. اُمّ سلمه وائی چه کله ابو سلمه (یعنی د هغې خاوند) وفات شو نو ما اووے. اوس به ددۀ نه غوره څوک وی. ځکه چه دا هغه ړومبے کور وو. چا چه د رسول الله په طرف هجرت کړے وو. بیا ما دغه دُعا اوکړه (د اِنَّا لِلّٰهِ نه د وَاَخْلِفْ لِی خَیْرًا مِنْهَا پورے) نو الله تعالی ما ته د ابوسلمه په بدله

---

[1] جنازه وتلے ده د جنز نه چه د پټولو په معنی کښې ده. او جنازه د جیم په زیر سره هم صحیحه ده. مګر د جیم په زِبر سره فصیح ده. او بعضو ویلی دی چه کله د جیم په زبر سره اوویلے شی. نو مراد ترے نه مړے دے. او کله چه په زیر سره اوویلے شی نو هغه څیز به مراد وی په کوم کښې چه مړے دے. او بعضو دد ے په الټه ویلی دی او جمع د هغې په زبر سره راغلې ده.

[2] : هغۀ ته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ایزده کوئ. ځکه چه د هغۀ آخری کلام لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ شی. ولے چه په حدیث کښې راغلی دی. چه د چا دا آخری کلام شی هغه به جنت ته ځی. او دا تلقین حکم مستحب دے او د علماؤ په دے باندے اجماع ده. او مکروه دی بیمار ته حکم کول. او بار بار هغۀ ته ویل چه چرته تنګ را نۀ شی او انکار او نۀ کړی. بلکه لازم دی چه د هغۀ په خوا کښې به دے کلمے لره وائی. ددی دپاره چه هغه هم واوری او لوستل شروع کړی. او کله چه هغه یو خل اووائی بیا به چُپ شی. آو کۀ چرے بیائے څۀ نورے خبرے اوکړے نو بیا به تلقین کوی. دد ے دپاره چه د هغۀ آخری کلمه کلمهٔ توحید شی.

مسلم رحمه الله ویلی دی. او بیان کړے دے مونږ ته دغه روایت قتیبه بن سعید هغۀ ته عبد العزیز یعنی دراوردی. او ویلی دی چه روایت کړے دے ما ته ابوبکر بن ابی شیبه هغۀ ته خالد بن مخلد هغۀ ته سلیمان بن بلال دواړو د دغه سند سره.

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ أَرْسَلَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاطِبَ بْنَ أَبِي بَلْتَعَةَ يَخْطُبُنِي لَهُ فَقُلْتُ إِنَّ لِي بِنْتًا وَأَنَا غَيُورٌ فَقَالَ أَمَّا ابْنَتُهَا فَنَدْعُو اللهَ أَنْ يُغْنِيَهَا عَنْهَا وَأَدْعُو اللهَ أَنْ يَذْهَبَ بِالْغَيْرَةِ

کښې رسول الله ﷺ خاوند راکړو. وائی چه رسول الله ﷺ ما ته حاطب بن ابی بلتعه رااولیږهٔ. هغهٔ ما ته د حضرت ﷺ پیغام راوړو راغے. ما عرض اوکړو چه ځما یوه لور ده او په ما کښې غصه ده. نو هغهٔ اوفرمایل چه د هغے د لور دپاره خو به مونږ د الله تعالی نه دُعا اوکړو چه الله تعالی به هغے لره د خپلے لور د فکر نه بے غمه کړی او د هغے د غصے دپاره مونږ دُعا کوو چه هغه الله تعالی قابو کړی!

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَضَرْتُمُ الْمَرِيضَ أَوِ الْمَيِّتَ فَقُولُوا خَيْرًا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ قَالَتْ فَلَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا سَلَمَةَ قَدْ مَاتَ قَالَ قُولِي اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَلَهُ وَأَعْقِبْنِي مِنْهُ عُقْبَى حَسَنَةً قَالَتْ فَقُلْتُ فَأَعْقَبَنِي اللهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ لِي مِنْهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اُمِّ سلمهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی کله چه تاسو د بیمار یا د مړی خواله ورشئ نو ښے خبرے کوئ ځکه چه فرښتے اٰمین وائی په هغے چه تاسو ئے وایئ. او ویلی دی چه کله ابوسلمهؓ وفات شو. نو زهٔ د رسول الله ﷺ خواله راغلم او عرض مے اوکړو چه اے د الله رسوله! د ابو سلمهؓ وفات اوشو نو حضرت ﷺ اوفرمایل دا دُعا وایه د اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي نه د حَسَنَةً پورے یعنی اے الله! ما لره او دهٔ لره اوبخے او ماله ددهٔ نه ښهٔ په بدل کښې راکړه. وائی چه ما دا دُعا اوکړله نو الله تعالی ما لره د هغهٔ نه ښهٔ په بدل کښې راکړو یعنی محمد ﷺ.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي سَلَمَةَ وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ فَأَغْمَضَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الرُّوحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ فَضَجَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ فَقَالَ لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ

اُمِّ سلمهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ د ابوسلمهؓ تپوس له راغے او د هغهٔ سترګے غړیدلے پاتے شوے وے. بیائے هغے لره بندے کړے. او اوئے فرمایل. چه کله ساه اوځی نو سترګے په هغے پسے لګیدلی وی. او خلقو د هغهٔ په کور کښې ژړا شروع کړه نو حضرت ﷺ اوفرمایل. د ځان دپاره په ښهٔ طریقه دُعا کوئ ځکه چه فرښتے اٰمین وائی ستاسو په خبرو باندے. بیا هغهٔ دُعا اوکړه یا الله اوبخے ابوسلمهؓ لره. او اوچته کړه د هغهٔ درجه په هدایت والاؤ کښې. او

وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ

او پخښنه موښ لره او هغهٔ لره اے پالونکیه د مخلوقاتو. او فراخه کړه د هغهٔ قبر لره. او رڼا کړه قبر د هغهٔ لره.

عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَاخْلُفْهُ فِي تَرِكَتِهِ وَقَالَ اللَّهُمَّ أَوْسِعْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَلَمْ يَقُلْ افْسَحْ لَهُ وَزَادَ قَالَ خَالِدٌ الْحَذَّاءُ وَدَعْوَةٌ أُخْرَى سَابِعَةٌ نَسِيتُهَا

خالد الحذاء په دغه اسناد سره په شان د پورته روایت، روایت کړے دے. او په دے کښې ئے دا ویلی دی چه حضرت ﷺ په دُعا کښې عرض اوکړو چه یا الله! خلیفه شے تهٔ د هغهٔ په بال بچو کښې چه هغه دا پریخودی دی او مړ شوے دے. او اوئے ویلی چه یا الله! د هغهٔ قبر فراخ کړه او د افسح لفظ ئے نهٔ دے ویلے. او دائے هم زیاته کړه چه خالد وائی. او یه دُعائے اوکړه د اووم ځیز دپاره چه هغه ځما نه هیره شوه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَمْ تَرَوْا الْإِنْسَانَ إِذَا مَاتَ شَخَصَ بَصَرُهُ قَالُوا بَلَى قَالَ فَذَلِكَ حِينَ يَتْبَعُ بَصَرُهُ نَفْسَهُ

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل. بنده نهٔ گوری چه کله مړ کیږی. نو د هغهٔ سترگے غړیدلے پاتے کیږی. خلقو اووے. آو. حضرت ﷺ ورته اوفرمایل دا دے سبب دا دے چه د هغهٔ نظر د روح نه روستوځی.

مسلم ویلي دی. او دا حدیث روایت کړے دے ما ته قتیبه بن سعید، هغهٔ ته عبد العزیز یعنی دراوردی هغهٔ ته علاء د دغے سند سره.

عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ لَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ غَرِيبٌ وَفِي أَرْضِ غُرْبَةٍ لَأَبْكِيَنَّهُ بُكَاءً يُتَحَدَّثُ عَنْهُ فَكُنْتُ قَدْ تَهَيَّأْتُ لِلْبُكَاءِ عَلَيْهِ إِذْ أَقْبَلَتْ امْرَأَةٌ مِنْ الصَّعِيدِ تُرِيدُ أَنْ تُسْعِدَنِي فَاسْتَقْبَلَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ أَتُرِيدِينَ أَنْ تُدْخِلِي الشَّيْطَانَ بَيْتًا أَخْرَجَهُ اللَّهُ مِنْهُ مَرَّتَيْنِ

عبید بن عمیرؓ ویلی دی چه اُمّ سلمهؓ وائی. کله چه د سلمهؓ د پلار وفات اوشو نو ما اووے. دا مسافر په پردئ زمکه کښې مړ شو. زهٔ به ددهٔ دپاره داسے اوژاړم. چه په خلقو کښې به د هغے بنهٔ شهرت وی. غرض دا چه ما د ژړا تیارے اوکړو. او یوه ښځه بله راغله د مدینے د پورته محلے نه هغے غوښتله چه ځما ملگرتیا اوکړی. چه په دے کښې رسول الله ﷺ د هغے نه مخکښې راغے. او اوئے فرمایل. چه ولے تهٔ شیطان لره راغوښتل غواړے. هغه کور ته چه د هغے نه الله پاک هغهٔ لره دوباره وېستلے دے.

فَكَفَفْتُ عَنِ الْبُكَاءِ فَلَمْ أَبْكِ

أُم سلمهؓ وائی چه بیا زهٔ د ژړا نه قلاره شوم. او اُومې نهٔ ژړل[1].

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ إِحْدَى بَنَاتِهِ تَدْعُوهُ وَتُخْبِرُهُ أَنَّ صَبِيًّا لَهَا أَوِ ابْنًا لَهَا فِي الْمَوْتِ فَقَالَ لِلرَّسُولِ ارْجِعْ إِلَيْهَا فَأَخْبِرْهَا أَنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطَى وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَمُرْهَا فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ فَعَادَ الرَّسُولُ فَقَالَ إِنَّهَا قَدْ أَقْسَمَتْ لَتَأْتِيَنَّهَا قَالَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَامَ مَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَانْطَلَقْتُ مَعَهُمْ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الصَّبِيُّ وَنَفْسُهُ تَقَعْقَعُ كَأَنَّهَا فِي شَنَّةٍ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ مَا هٰذَا يَا رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ هٰذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللهُ فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ

أسامه بن زیدؓ ویلی دی چه مونږ د نبی کریم سره وو. چه یوې لور هغهٔ ته پیغام رااولیږهٔ او اوئې غوښتو. او خبر ئې رااولیږهٔ چه د هغې یو خوئ مرګ ته قریب دے. نو حضرتؐ هغهٔ ته اووے. چه تهٔ واپس لاړ شه او هغې ته اووایه چه د اللهؐ وو هغه څهٔ چه هغهٔ واخستو او هغه څهٔ ئې درکړل او د هر څیز د هغهٔ په نزد څهٔ عمر مقرر دے. نو تهٔ هغې ته حکم اوکړه چه هغه صبر کوی. او د الله تعالی نه د ثواب اُمید لری. هغه خبر راوړلو والا بیا راغے. او عرض ئې اوکړو چه هغه تا له قسم درکوی چه تاسو ضرور تشریف راوړئ (په دے سره بل ته قسم ورکلو جائز شو) بیا نبی کریم ﷺ پاڅیدهٔ او د هغهٔ سره سعد بن عبادهؓ او معاذ بن جبلؓ هم لاړل او أسامهؓ وائی چه زهٔ هم د هغوی سره وم. بیائې هغه هلک لره د هغهٔ مخے له راوړو. او هغه ساه ورکوله لکه په زوړ مشک کښې کشارے کوی. نو د حضرتؐ د سترګو مبارکو نه اوښکے لاړے او سعدؓ اووے. دا څهٔ دی اے د الله رسوله ﷺ! (یعنی ژړا لره ئې د صبر خلاف اوګڼړله) حضرتؐ اوفرمایل دا رحمت دے. چه الله تعالی د خپلو بندیګانو په زړونو کښې ایخودے دے. او الله پاک د خپلو بندیګانو نه په هغه چا باندے رحمت کوی چه هغه په نورو باندے رحمت کوی[2].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ اشْتَكَى سَعْدُ

عبد الله بن عمرؓ ویلی دی چه سعد بن عبادهؓ ناجوړه شو. نو رسول

---

[1] نوحه یعنی خان وهل او چغې ویستل لکه شیطان لره په میلمستیا راغوښتل دی. او دا اخلاق وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه أم سلمه ته ئې څهٔ او نهٔ وے. خکه چه هغه دغم په تکلیف کښې راګهیرا وه. او دویمې ښځې لره ئې منع کړه. چه هغه (یعنی أم سلمه رضی الله عنها) هم پوهه شی او د ژړا نه قلاره شی.

[2] . د دے حدیث نه معلومه شوه چه صرف په سترګو سره ژړل د صبر خلاف نهٔ دی. البته کریکے وهل ، چغې وهل، بیان کول، کپړے خیرول، ویختهٔ شوکول، سینه وهل ، ورنونه مروړل، او په زور سره زمکے ته خان راخلاصول د ایمان شیوه نهٔ ده.

مسلم رحمه الله ویلی دی او روایت کړے دے مونږ ته محمد بن عبد الله هغهٔ ته ابوفضیل .او روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر هغهٔ ته ابومعاویه. دواړو د عاصم احول نه ددغې اسناد سره مګر حدیث د حماد پوره او اورد دے.

بْنُ عُبَادَةَ شَكْوَى لَهُ فَأَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى
اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ
بْنِ عَوْفٍ وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ وَعَبْدِ اللَّهِ
بْنِ مَسْعُودٍ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ وَجَدَهُ فِي
غَشِيَّةٍ فَقَالَ أَقَدْ قَضَى قَالُوا لَا يَا رَسُولَ
اللَّهِ فَبَكَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَلَمَّا رَأَى الْقَوْمُ بُكَاءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكَوْا فَقَالَ أَلَا تَسْمَعُونَ إِنَّ
اللَّهَ لَا يُعَذِّبُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ وَلَا بِحُزْنِ
الْقَلْبِ وَلَكِنْ يُعَذِّبُ بِهَذَا وَأَشَارَ إِلَى
لِسَانِهِ أَوْ يَرْحَمُ

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا مَعَ
رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ
مِنَ الْأَنْصَارِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَدْبَرَ الْأَنْصَارِيُّ
فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَخَا
الْأَنْصَارِ كَيْفَ أَخِي سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ فَقَالَ صَالِحٌ
فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ
يَعُودُهُ مِنْكُمْ فَقَامَ وَقُمْنَا مَعَهُ وَنَحْنُ بِضْعَةَ عَشَرَ
مَا عَلَيْنَا نِعَالٌ وَلَا خِفَافٌ وَلَا قَلَانِسُ وَلَا قُمُصٌ
نَمْشِي فِي تِلْكَ السِّبَاخِ حَتَّى جِئْنَاهُ فَاسْتَأْخَرَ
قَوْمُهُ مِنْ حَوْلِهِ حَتَّى دَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ الَّذِينَ مَعَهُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

الله ﷺ د هغهٔ د لیدو دپاره راغے. او عبد الرحمٰن بن عوفؓ او سعد بن ابی وقاصؓ او عبد الله بن مسعودؓ هم د هغهٔ سره وو. بیا چه څهٔ وخت د هغهٔ خواله راغے نو هغه ئے بے هوشه اوموندو. نو حضرتؐ اوفرمایل ولے انتقال ئے شوے دے؟ خلقو عرض اوکړو نه دے (ددے نه معلومه شوه چه پیغمبرانوؑ ته علم غیب نشته دے) بیا هغهٔ په ژړا شو. او خلقو چه کله هغهٔ په ژړا اولیدو نو ټول په ژړا شول. حضرتؐ اوفرمایل واورئ! الله تعالی د سترګو په اوښکو او د زړهٔ په غم باندے عذاب نهٔ ورکوی. هغه خو په دے باندے عذاب ورکوی. او هغهٔ د ژبے په طرف اشاره اوکړه. یا هم په دغے باندے رحم کوی. (یعنی چه کله کلمه د خیر د خلے نه اوباسی نو رحم پرے کوی. او چه کله د شر خبره د خولے نه اوباسی نو عذاب ورکوی)

عبد الله بن عمرؓ ویلی دی. مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. چه د انصارو یو سړے راغے او سلام ئے اوکړو. او بیا واپس شو. پس رسول الله ﷺ تر نه تپوس اوکړو. اے د انصارو روره! څما رور سعدؓ څنګه دے؟ هغهٔ عرض اوکړو ښهٔ دے. حضرتؐ اوفرمایل ستاسو نه څوک د هغهٔ د تپوس کولو دپاره ځی؟ هغهٔ اودریدو او مونږ هم دهغهٔ سره اودریدو. او مونږ په لسو باندی سوا څو سړی وو. چه نهٔ زمونږ سره پیزار وو نهٔ موزے. او نهٔ توپئ وے نهٔ کرتے (دا کمال د صحابو د زهد او د دنیا نه د بیزارئ وو) او مونږ روان وو په هغه کارچنه زمکه باندے تردے پورې چه هغهٔ ته اورسیدو. او خلق کوم چه د سعدؓ سره وو هغه لرے شو او رسول الله ﷺ او هغه خلق کوم چه د هغهٔ سره وو. د هغهٔ خواله لاړو.

حضرت انسؓ ویلی وو چه رسول الله ﷺ اوفرمایل. صبر هغه دے چه

صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولٰی

هغه د تکلیف رسیدو په شروع کښ اوشی (ځکه چه په آخر کښ خو هر یو له صبر راتلے شی. مثال دے "د ماښام مرے به تر کومه ژاړے")

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَی عَلَی امْرَأَةٍ تَبْكِي عَلَی صَبِيٍّ لَهَا فَقَالَ لَهَا اتَّقِي اللّٰهَ وَاصْبِرِي فَقَالَتْ وَمَا تُبَالِي بِمُصِيبَتِي فَلَمَّا ذَهَبَ قِيلَ لَهَا إِنَّهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَهَا مِثْلُ الْمَوْتِ فَأَتَتْ بَابَهُ فَلَمْ تَجِدْ عَلَی بَابِهِ بَوَّابِينَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَمْ أَعْرِفْكَ فَقَالَ إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ أَوَّلِ صَدْمَةٍ أَوْ قَالَ عِنْدَ أَوَّلِ الصَّدْمَةِ

انس بن مالک ؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ د یوے ښځے په خواه کښ تیریدو. او هغے په خپل معشوم باندے ژړل نو حضرت ؐ ورته اوفرمایل د الله نه اویریږه او صبر اوکړه. هغے اووے تا ته خما په شان مصیبت نۀ دے رسیدلے. بیا چه کله هغه لاړو نو خلقو اووے. هغه خو د الله رسول ؑ وو. نو هغے ته داسے بده معلومه شوه چه لکه مړه شوه. (یعنی هغۀ جواب ورکول ورته بد معلوم شول) او هغه د حضرت ؐ دروازے له راغله او هلته ئے څۀ څوکیدار او نۀ موندۀ (لکه څنګه چه ددنیا دارو په دروازه باندے وی) او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ؐ ما تا لره نۀ وو پیژندلے. حضرت ؐ اوفرمایل صبر خو هغه دے چه د تکلیف په شروع کښ وی.

مسلم ؒ ویلی دی او دا روایت کړے دے موږ ته یحیٰی بن حبیب حارثی هغۀ ته خالد یعنی ابن حارث او روایت کړے دے موږ ته عقبه بن مکرم هغۀ ته عبد المالک بن عمرو. او ویلی دی مسلم ؒ روایت کړے دے ما ته احمد بن ابراهیم هغۀ ته عبد الصمد، تولو ویلی دی. روایت کړے دے موږ ته شعبه ددغه اسناد سره په شان د عثمان بن عمر د روایت او هغه قصه ئے بیان کړه. او د عبد الصمد په روایت کښ دادی. چه نبی کریم ﷺ د یوے ښځے په خواه تیر شو. چه هغه ښځه د قبر په خواه کښ ناسته وه.

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ حَفْصَةَ بَكَتْ عَلَی عُمَرَ فَقَالَ مَهْلًا يَا بُنَيَّةُ أَلَمْ تَعْلَمِي أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ

عبد الله ؓ ویلی دی چه په حضرت عمر ؓ باندے حفصے ؓ اوژړل (دا د حضرت عمر ؓ لوره وه) نو حضرت عمر ؓ اووے اے خما لورے چُپ شه. ولے تۀ خبره ئے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه مړے

يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ	عذابیږي د هغهٔ د کور والا په هغهٔ پسے په ژړا کولو سره[۱].
عَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَيِّتُ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ	حضرت عمرؓ ویلي دي چه نبی کریم فرمایلي دي چه مړی ته تکلیف وي په قبر کښ په هغه پسے د واویلے کولو په سبب
عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ أُغْمِيَ عَلَيْهِ فَصِيحَ عَلَيْهِ فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ أَمَا عَلِمْتُمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ	عبد الله بن عمرؓ وائي چه کله حضرت عمرؓ زخمي شو بے هوشه شو. او خلقو په هغهٔ باندے په چغو چغو ژړا شروع کړه. بیا چه کله هغهٔ ته هوش راغے. نو هغوی اوفرمایل. چه تاسو ته معلومه نهٔ ده چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه د ژوندي په ژړا سره مړے عذابیږي.
عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمَّا أُصِيبَ عُمَرُ جَعَلَ صُهَيْبٌ يَقُولُ وَا أَخَاهُ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ يَا صُهَيْبُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ	ابوبردهؓ د خپل پلار نه روایت کړے دے چه کله حضرت عمرؓ زخمي شو. نو صهیبؓ په ژړا کښ اووے. چه هائے ځما روره. نو حضرت عمرؓ اوفرمایل. چه اے صهیبؓ تهٔ نهٔ ئے خبر چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه د ژوندي په ژړا سره مړے عذابیږي.
عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ لَمَّا أُصِيبَ عُمَرُ أَقْبَلَ صُهَيْبٌ مِنْ مَنْزِلِهِ حَتَّى دَخَلَ عَلَى عُمَرَ فَقَامَ بِحِيَالِهِ يَبْكِي فَقَالَ عُمَرُ عَلَامَ تَبْكِي	ابو موسیٰؓ فرمایلي دي. کله چه حضرت عمرؓ زخمي شو. نو صهیبؓ خپل کور ته راغے. او د حضرت عمرؓ خواته اورسیدو. او د هغهٔ مخے ته اودریدو او ژړائے شروع کړه. نو حضرت عمر اوفرمایل تهٔ ولے ژاړے؟

[۱] په دے باره کښ څو روایتونه حضرت عمر رضی الله عنه او د هغهٔ د لور نه روایت شوي دي. او د مؤمنانو مور حضرت عائشه رضی الله عنها چه د ټولو فقهاؤ او مجتهدینو مور ده. په دے کښ کلام فرمایلے دے چه هغه راؤیانو ته شبه شوه. چه حضرت داسے ولے اوفرمایل. ځکه چه الله تعالی فرمائي. وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرَى یعني څوک به د چا بوج اوچتولے نهٔ شي. بیا د نورو په ژړا سره ولے په مړي باندے عذاب راځي. او دا حدیث د کومے نه چه حضرت عمر رضی الله عنه استدلال کوي. دا خو حضرت د یوے یهودیے ښځے دپاره فرمایلي وو چه خلق د هغے دپاره په ژړا سر دي. او په هغے باندے عذاب شروع دے. غرض دا چه په هغے باندے عذاب د هغے د کفر په وجه سره وو. نهٔ د هغوی په ژړا سره. او علماؤ د حضرت عمر رضی الله عنه د روایتونو داسے تاویل کړے دے. چه مراد د هغے نه هغه مړے دے چه هغه د ژړا او واویلا کولو دپاره وصیت کړے وي. او د هغهٔ په وصیت باندے عمل اوشي. نو بیشکه په هغهٔ باندے به عذاب وي. او په کوم مړي باندے چه خلق په خپله ژاړي. او هغه وصیت نهٔ وي کړے. یا د هغهٔ په زړهٔ کښ کراهت د واویلا کولو نهٔ وي. نو په هغه باندے د نورو خلقو په ژړا سره څنګه عذاب راتلے شي. ځکه چه الله تعالی په خپله فرمایلي دي چه څوک د چا بوج اوچتولے نهٔ شي. او د عربو عادت وو. چه د ژړا وصیت به ئے کولو. او بعضو ویلي دي چه مراد د هغے نه دا دے چه مړے د خپلو خلقو ژړا لره اوري او د هغے نه هغه تکلیف مومي. او غم کوي او خفه کیږي. قاضي عیاض رحمه الله د دے قول لره غوره کړے دے او د ټولو نه نۓ ورته ښهٔ ویلي دي. (نووي رحمه الله)

أَعَلَيَّ تَبْكِي فَقَالَ إِي وَاللهِ لَعَلَيْكَ أَبْكِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ وَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يُبْكَى عَلَيْهِ يُعَذَّبُ قَالَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِمُوسَى بْنِ طَلْحَةَ فَقَالَ كَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ إِنَّمَا كَانَ أُولٰئِكَ الْيَهُودَ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ لَمَّا طُعِنَ عَوَّلَتْ عَلَيْهِ حَفْصَةُ فَقَالَ يَا حَفْصَةُ أَمَا سَمِعْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْمُعَوَّلُ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ وَعَوَّلَ عَلَيْهِ صُهَيْبٌ فَقَالَ عُمَرُ يَا صُهَيْبُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْمُعَوَّلَ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ وَنَحْنُ نَنْتَظِرُ جَنَازَةَ أُمِّ أَبَانَ بِنْتِ عُثْمَانَ وَعِنْدَهُ عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ فَجَاءَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُودُهُ قَائِدٌ فَأُرَاهُ أَخْبَرَهُ بِمَكَانِ ابْنِ عُمَرَ فَجَاءَ حَتَّى جَلَسَ إِلَى جَنْبِي فَكُنْتُ بَيْنَهُمَا فَإِذَا صَوْتٌ مِنَ الدَّارِ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ كَأَنَّهُ يَعْرِضُ عَلَى عَمْرٍو أَنْ يَقُومَ فَيَنْهَاهُمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ قَالَ فَأَرْسَلَهَا عَبْدُ

ولې په ما باندې ژاړې؟ هغوی اووې. چه آو په الله قسم دې په تا باندې ژاړم. اې د مؤمنانو سرداره! بیا حضرت عمرؓ اوفرمایل. قسم دې په الله تاسو ښهٔ پوهه یې: چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه په چا باندې خلق ژاړی هغه عذابیږی. هغوی وائی چه ما ددې ذکر موسیٰ بن طلحهؓ ته اوکړو. هغوی اووې چه حضرت عائشېؓ فرمایلې وو چه دغه خلق یهود وو. چا ته چه حضرت ﷺ داسې فرمایلی وو.

انسؓ ویلی دی چه کله حضرت عمرؓ زخمی شو. نو حفصېؓ په هغهٔ باندې په چغو ژړا شروع کړه. نو هغوی اووې تاسو نهٔ دی اوریدلی د رسول الله ﷺ نه چه فرمایلی ئې وو. په چا باندې چه په چغو ژړا اوشی هغه عذابیږی. او صهیبؓ هم په هغهٔ باندې په چغو اوژړل. نو هغهٔ ته هم حضرت عمرؓ اووې. اې صهیبه! ته نهٔ ئې خبر چه په چا باندې په چغو ژړل اوشی هغه عذابیږی.

عبد الله بن ابی ملیکهؓ وائی چه زهٔ د ابن عمرؓ په خواه کښې ناست وم. او مونږ ټول د اُمّ ابان د حضرت عثمانؓ د لور د جنازې منتظر وو. او د هغهٔ (یعنی ابن عمرؓ) سره عمرو بن عثمان وو. او ابن عباسؓ هم راغې چه هغهٔ لره یو سړی راوړو چه هغه به هغهٔ لره اورلو (یعنی هغهړوند وو) بیا ګمان کوم زهٔ چه خبر ئې ورکړو هغهٔ لره د ابن عمرؓ د ځائې نه بیا هغه راغې او څما په خوا کښې کیناستو. او زهٔ د هغه دواړو (یعنی ابن عمرؓ او ابن عباسؓ) په مینځ کښې وم. چه په دیکښې د کور نه د ژړا آواز راغې. او ابن عمرؓ اووې. لکه اشاره ئې اوکړه د عمرؓ په طرف چه هغه اودریږی او هغه ژړا والا لره منع کړی (یعنی هغهٔ ته د اورولو دپاره ئې اووې) چه اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمایلی ئې وو. چه په مړی باندې د هغهٔ د خلقو په ژړا سره عذاب وی. او عبد الله بن عمرؓ هغې لره

اللهِ مُرْسَلَةً. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُنَّا مَعَ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ نَازِلٍ فِي ظِلِّ شَجَرَةٍ فَقَالَ لِي اذْهَبْ فَاعْلَمْ لِي مَنْ ذَاكَ الرَّجُلُ فَذَهَبْتُ فَإِذَا هُوَ صُهَيْبٌ فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ إِنَّكَ أَمَرْتَنِي أَنْ أَعْلَمَ لَكَ مَنْ ذَاكَ وَإِنَّهُ صُهَيْبٌ قَالَ مُرْهُ فَلْيَلْحَقْ بِنَا فَقُلْتُ إِنَّ مَعَهُ أَهْلَهُ قَالَ وَإِنْ كَانَ مَعَهُ أَهْلُهُ وَرُبَّمَا قَالَ أَيُّوبُ مُرْهُ فَلْيَلْحَقْ بِنَا فَلَمَّا قَدِمْنَا لَمْ يَلْبَثْ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ أَنْ أُصِيبَ فَجَاءَ صُهَيْبٌ يَقُولُ وَا أَخَاهُ وَا صَاحِبَاهُ فَقَالَ عُمَرُ أَلَمْ تَعْلَمْ أَوَ لَمْ تَسْمَعْ قَالَ أَيُّوبُ أَوْ قَالَ أَوَ لَمْ تَعْلَمْ أَوَ لَمْ تَسْمَعْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ قَالَ فَأَمَّا عَبْدُ اللهِ فَأَرْسَلَهَا مُرْسَلَةً وَأَمَّا عُمَرُ فَقَالَ بِبَعْضِ فَقُمْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَحَدَّثْتُهَا بِمَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَقَالَتْ لَا وَاللهِ مَا قَالَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطُّ إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَحَدٍ وَلَكِنَّهُ قَالَ إِنَّ الْكَافِرَ

عام فرمایلی دی (یعني دا قید نې نهٔ دے لګولے چه دا حدیث حضرت د یهودو دپاره فرمایلے وو) په دے باندے ابن عباس اووے چه مونږ د امیر المؤمنین حضرت عمر سره وو. تردے پورے چه کله بیداء ته اورسیدو (بیداء د یو مقام نوم دے) ناڅاپه مو یو سړے اولیدو. چه هغه د یوے اونې په سوری کښې کوز شوے دے. نو ما ته امیر المؤمنین اوفرمایل. چه لاړ شه او معلومه کړه چه دا سړے څوک دے؟ بیا زهٔ لاړم او ما چه اولیدو چه هغه صهیب وو. بیا زهٔ واپس شوم او ما اووے ما ته تا حکم کړے وو. چه اوګوره دا څوك دے. نو ما اولیدو چه هغه صهیب دے. بیا هغوی اوفرمایل چه لاړ شه او هغهٔ ته حکم اوکړه چه څما سره میلاؤ شی. ما اووے. د هغهٔ سره د هغهٔ ټبر هم ده. حضرت عمر اوفرمایل. څهٔ باک دی اګر کهٔ وی د هغهٔ سره د هغهٔ بی بی. بیا چه کله مدینے ته راغلو نو څهٔ وخت تیر نهٔ وو چه امیر المؤمنین زخمی شو. او صهیب راغے او دائے اووے. چه هائے څما روره! هائے څما ملګریه! نو حضرت عمر اوفرمایل. چه تا ته پته نهٔ ده یا تا اوریدلی نهٔ دی. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه مړے د هغهٔ د کور والا په ژړا سره عذاب مومی. بیا وائی چه عبد الله ځُرلت اووے. چه د هغوی په ژړا سره عذاب مومی. او حضرت عمر دا ویلی وو چه د خلقو د بعضے ژړا نه عذابیږی بیا زهٔ اودریدم (دا قول د عبد الله بن ابی ملیکه دے) او د حضرت عائشے خواله لاړم. او هغے ته م دا تول بیان اوکړو. کوم چه ابن عمر ویلے وو. بیا هغوی (یعنی اُمّ المؤمنین) اوفرمایل نا، دا خبره نهٔ ده په الله قسم دے. رسول الله ﷺ دا نهٔ دی فرمایلی چرته، چه مړی ته د هغهٔ د خپلوانو په ژړا سره عذاب وی. بلکه هغهٔ دا فرمایلی دی چه په کافر باندے د هغهٔ د کور والا په ژړا سره

يَزِيدُهُ اللهُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَذَابًا وَإِنَّ اللهَ لَهُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَى وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى قَالَ أَيُّوبُ قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ حَدَّثَنِي الْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ لَمَّا بَلَغَ عَائِشَةَ قَوْلُ عُمَرَ وَابْنِ عُمَرَ قَالَتْ إِنَّكُمْ لَتُحَدِّثُونِّي عَنْ غَيْرِ كَاذِبَيْنِ وَلَا مُكَذَّبَيْنِ وَلَكِنَّ السَّمْعَ يُخْطِئُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ تُوُفِّيَتِ ابْنَةٌ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ بِمَكَّةَ قَالَ فَجِئْنَا لِنَشْهَدَهَا قَالَ فَحَضَرَهَا ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ وَإِنِّي لَجَالِسٌ بَيْنَهُمَا قَالَ جَلَسْتُ إِلَى أَحَدِهِمَا ثُمَّ جَاءَ الْآخَرُ فَجَلَسَ إِلَى جَنْبِي فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لِعَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ مُوَاجِهُهُ أَلَا تَنْهَى عَنِ الْبُكَاءِ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَدْ كَانَ عُمَرُ يَقُولُ بَعْضَ ذَلِكَ ثُمَّ حَدَّثَ فَقَالَ صَدَرْتُ مَعَ عُمَرَ مِنْ مَكَّةَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ إِذَا هُوَ بِرَكْبٍ تَحْتَ ظِلِّ شَجَرَةٍ فَقَالَ اذْهَبْ

عذاب نور زیاتیږی او خندوونکے هم هغه دی او ژړوونکے هم هغه دے (یعنی الله پاک) او څوک د چا بوج نهٔ شی اوچتولے. ایوب وائی چه ابن ابی ملیکه ویلی دی چه ما ته بیان کړے دے قاسم بن محمد چه هر کله حضرت عائشےؓ ته خبر اورسیدهٔ د حضرت عمرؓ او ابن عمرؓ د قول نو هغوی اوفرمایل چه تهٔ دداسے خلقو خبره کوے. چه هغه دروغ نهٔ وائی او نهٔ دروغجن کیدے شی. مگر په اوریدو کښں کله غلطی کیږی (یعنی مراد دا چه حضرتؓ دا خبره د یهودو یا د بل یو کافر دپاره فرمایلې وه. او اوریدلو والا هغے لره د هر سړی دپاره عامه اوګنړله[1].

عبد الله بن ابی ملیکه ویلی دی د حضرت عثمانؓ لور بی بی وفات شوه په مکه مکرمه کښں او مونږ راغلو چه د هغے په جنازه کښں شریک شو. او ابن عباسؓ او ابن عمرؓ هم راغلهٔ او زهٔ د دغه دواړو په مینځ کښں ناست وم. او هغه داسے اوشوه. چه ورمبے زهٔ د یو ملګری په خواه کښں کیناستم او دویم ملګرے چه کوم راغے نو څما مخ طرفته کیناستو (ځکه زهٔ د هغه دواړو په مینځ کښں راغلم) بیا عبد الله بن عمرؓ عمرو بن عثمانؓ ته اووے. او هغه، د هغه په مخکښں ناست وو. چه تهٔ دے ژړا نه منع نهٔ کوے. ځکه چه رسول اللهﷺ فرمایلی دی چه مړے عذابیږی د هغهٔ د کور والا په ژړا سره په هغهٔ باندے. پس ابن عباسؓ اووے. چه حضرت عمرؓ خو داسے ویل چه د څنے کور والا په ژړا سره (یعنی تا د بعضے لفظ پریخودلو) بیائے حدیث بیان کړو او اوئے ویل چه زهٔ د حضرت عمرؓ سره د مکے نه واپس راتلم تردے پورے چه کله مونږه بیداء ته اورسیدو. نو هلته مونږ څو سوارهٔ د یو ے اونے د سوری

[1]: امام نووی رحمه الله ویلی دی چه ددے حدیث نه ثابته شوه. چه د کوم څیز غالب گمان وی په هغے باندے قسم خوړلے شی. لکه امّ المؤمنین رضی الله عنها چه قسم اوخوړهٔ.

فَانظُرْ مَنْ هٰؤُلَاءِ الرَّكْبُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ صُهَيْبٌ قَالَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ادْعُهُ لِي قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى صُهَيْبٍ فَقُلْتُ ارْتَحِلْ فَالْحَقْ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ فَلَمَّا أَنْ أُصِيبَ عُمَرُ دَخَلَ صُهَيْبٌ يَبْكِي يَقُولُ وَا أَخَاهُ وَا صَاحِبَاهُ فَقَالَ عُمَرُ يَا صُهَيْبُ أَتَبْكِي عَلَيَّ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَلَمَّا مَاتَ عُمَرُ ذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ يَرْحَمُ اللهُ عُمَرَ لَا وَاللهِ مَا حَدَّثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يُعَذِّبُ الْمُؤْمِنَ بِبُكَاءِ أَحَدٍ وَلٰكِنْ قَالَ إِنَّ اللهَ يَزِيدُ الْكَافِرَ عَذَابًا بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ قَالَ وَقَالَتْ عَائِشَةُ حَسْبُكُمُ الْقُرْآنُ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ قَالَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عِنْدَ ذٰلِكَ وَاللهُ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ فَوَاللهِ مَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ مِنْ شَيْءٍ

د لاندے اوليدو نو حضرت عمرؓ ما ته اوفرمايل چه اوګوره دا سوارهٔ څوک دی؟ ما چه اوکتل نو هغهٔ صهيبؓ وو. بيا ما حضرت عمرؓ له خبر ورکړو. نو هغوی اووے. هغهٔ لره راوغواره. ابن عباسؓ وائی. زهٔ په هغهٔ پسے لاړم او صهيبؓ ته مے اووے. خهٔ لاړ شه د امير المؤمنين سره ميلاو شه بيا چه کله حضرت عمرؓ زخمی شو. نو صهيبؓ د هغهٔ خواله راغے او په ژړا کښں ئے اووے. وائے ځما روره! وائے ځما ملګريه! نو عمرؓ صهيبؓ ته اووے. اے صهيبهؓ! ولے تهٔ په ما باندے ژړا کوے او رسول اللهﷺ فرمايلی دی چه مړے د بعضے خلقو په ژړا سره عذاب کيدےشی. بيا ابن عباسؓ وائی. چه کله حضرت عمرؓ وفات شو. نو ما د هغے ذکر حضرت عائشےؓ ته اوکړو. نو هغوی اووے. الله د په عمرؓ باندے رحم اوکړی. حضرتؐ داسے نهٔ دی فرمايلی. په خدائے قسم دے. الله تعالی د چا په ژړا سره مؤمن لره نهٔ عذابوی بلکه داسے ئے فرمايلی دی چه الله پاک د کافر عذاب د هغهٔ د خلقو په ژړا سره زياتوی بيا حضرت عائشےؓ اوفرمايل. چه ستاسو دپاره قرآن پوره دے. الله تعالی په هغے کښں فرمائی چه څوک د چا بار اوچتولو والانشته او ابن عباسؓ په داسے خبره باندے اوفرمايل چه دغه الله پاک خندول او ژړول کوی ابی ابی مليکهؓ ويلی دی. چه په خدائے قسم چه ابن عمرؓ بيا په دے باندے څهٔ او نهٔ وے.

مسلم ويلی دی چه روايت کړے دے مونږ ته عبد الرّحمٰن بن بشير هغهٔ ته سفيان هغهٔ ته عمرو هغهٔ ته ابن ابی ملٰيکه چه هغوی ويلی دی. مونږ په جنازه کښں وو چه هغه جنازه د اُم ابان د حضرت عثمانؓ د لور وه. او بيان ئے کړه حديث. او مرفوع اووے ايوب او ابن جريج او حديث د دغه دواړو پوره دے د عمرو د حديث نه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ

عبد الله بن عمرؓ وئیلی دی۔ رسول اللهﷺ فرمایلی دی۔ مړے د ژوندو په ژړا سره عذابیږی.

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ قَوْلُ ابْنِ عُمَرَ الْمَيِّتُ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَتْ رَحِمَ اللهُ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ سَمِعَ شَيْئًا فَلَمْ يَحْفَظْهُ إِنَّمَا مَرَّتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ وَهُمْ يَبْكُونَ عَلَيْهِ فَقَالَ أَنْتُمْ تَبْكُونَ وَإِنَّهُ لَيُعَذَّبُ

هشام د خپل پلار عروهؓ نه روایت کوی چه د حضرت عائشےؓ په مخکښې د ابن عمرؓ د دے وینا ذکر اوشو. چه مړے د هغهٔ د پس مانده ګانو په ژړا سره عذابیږی. نوهغوی اوفرمایل. چه الله د په د عبدالرّحمٰن په پلار باندے رحمت اوکړی. چه هغوی څهٔ اوریدلی دی. او هغه ئے یاد نهٔ دی. حقیقت د هغے داسے دے چه د یو یهودی جنازه د رسول اللهﷺ په مخکښې راغله او خلقو په هغے باندے ژړلو. نو حضرتﷺ اوفرمایل چه تاسو ژاړئ او په دهٔ باندے عذاب زیاتیږی.

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ يَرْفَعُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَتْ وَهِلَ إِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ لَيُعَذَّبُ بِخَطِيئَتِهِ أَوْ بِذَنْبِهِ وَإِنَّ أَهْلَهُ لَيَبْكُونَ عَلَيْهِ الْآنَ وَذَاكَ مِثْلُ قَوْلِهِ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْقَلِيبِ يَوْمَ بَدْرٍ وَفِيهِ قَتْلَى بَدْرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ لَهُمْ مَا قَالَ إِنَّهُمْ لَيَسْمَعُونَ مَا أَقُولُ وَقَدْ وَهِلَ إِنَّمَا قَالَ إِنَّهُمْ لَيَعْلَمُونَ أَنَّ مَا كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ حَقٌّ ثُمَّ قَرَأَتْ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ يَقُولُ حِينَ تَبَوَّءُوا

هشامؒ د خپل پلار عُروهؓ نه روایت کوی چه د حضرت عائشےؓ په مخکښې ذکر اوشو چه ابن عمرؓ د نبیﷺ نه حدیث بیانوی چه مړی ته د خپل کور والو د ژړا په وجه عذاب ورکړے کیږی نو حضرت عائشےؓ اوفرمایل چه رسول اللهﷺ خو صرف دا فرمایلے دی چه دے عذابیږی د خپلے ګناه یا د خطا په وجه او په دغه وخت خلق په دهٔ ژاړی. او دا قول د عبد اللهؓ د هیریدو داسے دے. چه لکه رسول اللهﷺ د بدر په کوهی کښې چه په هغے کښې د بدر د مشرکانو مقتولین وو. اودریدهٔ څهٔ چه اوفرمایل او عبد اللهؓ داسے روایت کړے دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه هغه خلق اوری څهٔ چه زهٔ وایم او د عبد اللهؓ هیر دے پوره حقیقت. حقیقت دادے چه حضرتﷺ اوفرمایل. چه اوس هغه خامخا پوهه دی. څهٔ به چه ما هغوی ته ویل (یعنی د هغوی په ژوند کښې) او هغه ربښتیا اوختل. بیا حضرت عائشےؓ دا آیت اولوستهٔ چه تهٔ نهٔ شے اورولے هغه چا ته چه په قبرونو کښې دی. د هغوی ددغه حال خبر ورکوی کله چه هغه

مَقَاعِدَهُمْ مِنَ النَّارِ

خائے اونیسی د دوزخ په خاینو کښ[1]

عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا سَمِعَتْ عَائِشَةَ وَذُكِرَ لَهَا أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ فَقَالَتْ عَائِشَةُ يَغْفِرُ اللهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَكْذِبْ وَلٰكِنَّهُ نَسِيَ أَوْ أَخْطَأَ إِنَّمَا مَرَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى يَهُودِيَّةٍ يُبْكَى عَلَيْهَا فَقَالَ إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا

عمره خبر ورکړے دے . هغوی ویلی دی چه دحضرت عائشے په مخکښ ذکر اوشو چه عبد الله ابن عمر ویلی دی چه مړے د ژوندو په ژړا سره عذابیږی. نو حضرت عائشے اوفرمایل چه الله د عبد الرّحمٰن لره اوبخی هغوی دروغ نهٔ دی ویلی مګر هیر شوی ئے دی. حقیقت داد ے. چه رسول الله ﷺ په یوه یهودی ښځه باندے تیر شو. چه خلقو په هغے باندے ژړلو.نو حضرت اوفرمایل. دوی خو په دے باندے ژاړی. او دے ته په قبر کښ عذاب ورکیږی.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ قَالَ أَوَّلُ مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ بِالْكُوفَةِ قَرَظَةُ بْنُ كَعْبٍ فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

علی بن ابی ربیعه ویلی دی. رومبیٔ چه په چا باندے په کوفه کښ نوحه (یعنی ژړا) واویلا اوشوه. هغه د کعب ځوئ قرظه وو. او مغیره واوریدل او اوئے ویل. چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه په چا باندے ژړا واویلا اوکړے شی. هغهٔ لره به د هغے په سبب سره د قیامت په ورځ عذاب وی.

مسلم ویلی دی. روایت کړے دے ما ته علی بن حجر هغهٔ ته علی بن مسهر هغهٔ ته محمد بن قیس هغهٔ ته علی بن ربیعه هغهٔ ته مغیره بن شعبه هغوی د نبی کریم ﷺ نه په شان د پورته روایت. او مسلم ویلی دی. روایت کړے دے ما ته ابن ابی عمر هغهٔ ته مروان بن معاویه هغهٔ ته سعد بن عبید طائی هغهٔ ته علی بن ربیعه هغهٔ ته مغیره بن شعبه هغوی د نبی کریم نه په مثل دد ے روایت.

عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى

ابو مالک روایت کړے دے. چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی. خما په

[1] دد ے حدیث شریف نه حُسن تهذیب او اخلاق د حضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها معلوم شو. چه په مختلفو مسئلو کښ ئے په خومره خوبئ او ښکلے طریقے سره د عبد الله بن عمر رضی الله عنه ذکر اوکړو. یو خائے کښ ئے اوفرمایل الله د په هغهٔ باندے رحم اوکړی. دویم خل ئے اوفرمایل چه د هغهٔ هیر شوی دی . په خلاف د نن زمانے . چه د خپل مینځ په مناظراتو کښ څنګه څنګه د تهذیب نه خلاف خبرے د قلم او ژبے نه وتلے شی.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ فِي أُمَّتِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ لَا يَتْرُكُونَهُنَّ الْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ وَالطَّعْنُ فِي الْأَنْسَابِ وَالْاسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُومِ وَالنِّيَاحَةُ وَقَالَ النَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ لَمَّا جَاءَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَجَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ وَعَبْدِ اللهِ بْنِ رَوَاحَةَ جَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ قَالَتْ وَأَنَا أَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ شَقِّ الْبَابِ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ وَذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَذْهَبَ فَيَنْهَاهُنَّ فَذَهَبَ فَأَتَاهُ فَذَكَرَ أَنَّهُنَّ لَمْ يُطِعْنَهُ فَأَمَرَهُ الثَّانِيَةَ أَنْ يَذْهَبَ فَيَنْهَاهُنَّ فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ وَاللهِ لَقَدْ غَلَبْنَنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَتْ فَزَعَمَتْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اذْهَبْ فَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ مِنَ التُّرَابِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ أَرْغَمَ اللهُ أَنْفَكَ وَاللهِ مَا تَفْعَلُ مَا أَمَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا تَرَكْتَ

امت کښې د جاهلیت (یعنی د کفر د زمانې) څلور څیزونه دی چه خلق به هغې لره نه پرېږدی. یو په خپل حسب باندې فخر کول دویم د نورو په نسب باندې لعنت ویل. دریم د ستورو نه د اوبو اُمید ساتل. څلورم په ستاینه او خان وهلو سره ژړل. دغه واویله کونکې بنده کۀ چرې توبه اونۀ باسی د خپل مرګ نه مخکښې نو کله چه قیامت شی. نو د هغۀ به د تیزابو قمیص او د خارښ څادر وی[1].

حضرت عائشې فرمایلی دی چه کله رسول الله ﷺ لره د زید بن حارثهؓ او د جعفر بن ابی طالبؓ او د عبد الله بن رواحهؓ د قتل خبر راغې نو هغه غمګین کیناستو. حضرت عائشهؓ فرمائی چه ما هغۀ ته د دروازې په چوند کښې کتل چه یو سړې راغې. او اوئې ویل چه یا رسول الله د جعفر ښځې ژړا کوی (یعنی په چغو واویلا سره کوم چه په شرع کښې منع ده) نو حضرتؐ اوفرمایل لاړ شه او هغوی لره منع کړه. بیا هغه لاړو او بیا راغې. او عرض ئې اوکړو چه هغوی نۀ منی. حضرتؐ بیا په دویم ځل هغۀ ته اوفرمایل چه لاړ شه او هغوی لره منع کړه. هغه بیا لاړو او بیا راغې او عرض ئې اوکړو. چه قسم په خدائې چه مونږ خو هغوی ناکامه کړو اې د الله رسوله! حضرت عائشهؓ فرمائی. چه ځما خیال وو چه حضرتؐ اوفرمایل چه لاړ شه او د هغوی په خله کښې خاورې اوغورځوه. حضرت عائشې فرمایلی دی چه ما اووې. ستا پوزه د الله د خاورو ډکه کړی چه نۀ خو هغه کار کوې د کوم چه حضرت ﷺ تا ته حکم فرمائی. او نۀ رسول

[1] د دې حدیث شریف نه په زوره او د ستایلو د ژړا حرام والې ثابت شو. او دا معلومه شوه چه د کومې پورې د مرګ علامات په مثل د غرغرې ثابت نۀ وی. د هغې پورې توبه قبلیږی د هغې نه پس نه.

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغِنَاءِ

الله ﷺ پرېږدے چه د تکلیف نه په ارام شي[1]

مسلم ویلی دی او روایت کړے دے مونږ ته ابو بکر بن ابی شیبه هغهٔ ته عبد الله بن نمیر. او ویلی دی مسلم چه روایت کړے دے ما ته ابو الطاهر هغهٔ ته عبد الله بن وهب هغهٔ ته معاویه او ویلی دی مسلم او روایت کړےدے ما ته احمد بن ابراهیم هغهٔ ته عبد الصمد هغهٔ ته عبد العزیز یعنی ابن مسلم دے ټولو روایت کړے دے د یحییٰ بن سعید نه د دغے اسناد سره په شان دده. او د عبد العزیز په روایت کښې دا الفاظ دی. مَاتَرَكْتُ رَسُولَ اللهِ مِنَ الْعِيِّ یعنی نهٔ پرېښودو تا رسول اکرم ﷺ لره د سترړی والی نه.

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ أَخَذَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ الْبَيْعَةِ أَلَّا نَنُوحَ فَمَا وَفَتْ مِنَّا امْرَأَةٌ إِلَّا خَمْسٌ أُمُّ سُلَيْمٍ وَأُمُّ الْعَلَاءِ وَابْنَةُ أَبِي سَبْرَةَ امْرَأَةُ مُعَاذٍ أَوِابْنَةُ أَبِي سَبْرَةَ وَامْرَأَةُ مُعَاذٍ

اُمِّ عطیه ویلی دی چه رسول الله ﷺ زمونږ نه د بیعت سره اقرار واخستو. چه مونږ به په زوره ژړا نهٔ کوو. نو چا خپل اقرار پوره نهٔ کړو مګر پنځو ښځو یعنی اُمِّ سلیم او اُمِّ علاء او د ابی سبره لوره چه ښځه وه د معاذ یائے داسے اووے چه د ابی سبره لور او د معاذ بی بی.

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللهِ شَيْئًا وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ قَالَتْ كَانَ مِنْهُ النِّيَاحَةُ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِلَّا آلَ فُلَانٍ فَإِنَّهُمْ كَانُوا أَسْعَدُونِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَلَا بُدَّ لِي مِنْ أَنْ أُسْعِدَهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

اُمِّ عطیه وائی. چه کله دا ایات نازل شو يُبَايِعْنَكَ . یعنی چه کله مؤمنانے ښځے د بیعت کولو دپاره ستا خواله راشي. نو د هغوی نه بیعت اخله چه نهٔ شریک کوی هغوی د الله سره څاله . او هغه د څهٔ دستور په خبره کښې ستا نافرمانی نهٔ کوی نو په هغه خبرو کښې د کومے چه رسول الله ﷺ زمونږ نه بیعت اخستے وو په هغے کښې یوه خبره نوحه هم وه. بیا ما حضرت نبی کریم ﷺ ته عرض اوکړو. چه یا رسول الله! چرته به هم نوحه نهٔ کوم. مګر د فلانی سړی په قبیله

---

[1] ددے روایت نه ظاهر معلومیږی. چه د هغوی ژړل د ستائنے او چغو سره وو. ګنی هغهٔ صلعم به د هغوی په منعه کولو کښې دومره مبالغه نهٔ فرمایله. ځکه چه په اوښکو سره ژړل منع نهٔ دی. او ددے نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوچت همت معلومیږی. چه په دومره سخت غم کښې هم د امر بالمعروف نه قلار نهٔ وو. او بعضو ویلی دی چه د صحابو رضی الله عنهم د شانه نه لرےده چه هغه په چغو او واویلا سره اوژاړی. او د هغهٔ دا فرمایل د استحباب په وجه سره وو.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا آلَ فُلَانٍ

کښې به کوم. ځکه چه هغوی به خما په نوحه کښې د جاهلیت په زمانه کښې شرکت کولو. نو ما لره هم د هغوی سره شرکت کول ضرورت دی. نو رسول الله ﷺ اوفرمایل. چه خیر په فلانئ قبیله کښې کوه[1].

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ قَالَتْ أُمُّ عَطِيَّةَ كُنَّا نُنْهَى عَنِ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا

محمد بن سیرینؒ وئیلی دی چه اُم عطیهؓ وائی چه مونږ به د جنازے سره د تلو نه منع کولے شو. مګر په تاکید سره به ئے نۀ منع کولو.

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نُغَسِّلُ ابْنَتَهُ فَقَالَ اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذَلِكَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُورًا أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ فَأَلْقَى إِلَيْنَا حَقْوَهُ فَقَالَ أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ

اُمّ عطیهؓ وائی چه نبی کریم ﷺ زمونږ خواله راغے. او مونږ د هغۀ لور لمبوله (یعنی د هغے جنازے ته) نو هغۀ اوفرمایل چه دے لره اولمبوئ درے ځله یا پنځۀ ځله کۀ چری تاسو مناسب ګنړئ په اوبو سره. او د بیرے په پاڼړو سره. او واچوئ پرے په آخر کښې کافور. یائے اوفرمایل لږ شان کافور. بیا چه ئے کله تاسو اولمبوئ نو ما خبر کړئ. بیا چه کله مونږ اولمبوله نو هغۀ له مونږ خبر ورکړو. او هغۀ خپل د لنګ څادر زمونږ په طرف راواغورځوۀ. او اوئے فرمایل چه دا د هغے د کفن د دننے کپړه کړئ (یعنی د برکت دپاره. ددے نه معلومه شوه چه د سړی په کپړه کښې ښخه دفن کیدے شی)[2].

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ مَشَطْنَاهَا ثَلَاثَةَ قُرُونٍ

اُمّ عطیهؓ وئیلی دی چه مونږ ګومنز کړو او د هغے ویختو لره مو

[1] دے حدیث نه هم د نوحے حرام والے ثابت شو (نوحه هغے ژړا ته وئیلے شی چه په هغے کښې د مړی د ستائلو سره سره د آواز اوچت والے او خان وهل وی)، چه هغۀ صلعم د ټولو ښځو نه اقرار واخستو چه چرته نوحه اونۀ کړی. او د اُم عطیه رضی الله عنها نه ئے هم اقرار واخستو. چه هغه به چرته نوحه اونۀ کړی سوا د هغے قبیلے نۀ او شارع لره اختیار دے. چه په بعضے حکم کښې چا لره خاص کړی.

[2] معلومه شوه چه درے ځله غُسل ورکول یعنی اوبۀ اچول ضروری دی. او کۀ اوګوری چه اوس هم دپاکوالی ضرورت دے نو پنځۀ ځله یا اووۀ ځله د غسل ورکړی. مګر چه طاق عدد وی. او کۀ چرے په درے ځله اوبو اچولو سره صفائی راغله نو د څلورم ځل اچولو ضرورت نشته. او قاضی عیاض رحمه الله وئیلی دی چه د حضرت صلی الله علیه وسلم دغه لور بی بی د حضرت اُم کلثوم رضی الله عنها وه. مګر صحیح داده چه زینب رضی الله عنها وه. او په آخری اوبو کښې کافور غورځول مستحب دی. او دغه قول دے د شافعی اومالک او احمد رحمهم الله او د جمهورو اګر چه حنفیه ددے د استحباب قائل نۀ دی. مګر دا حدیث په هغوی باندے حُجت دی. حالانکه کافور بدن لره پاکوی. او جسم سخت کوی. او زرئے ورستیدو له نۀ ورکوی او خوشبوئی ده. او ددے نه ثابته شوه چه دنیکانو په کپړو سره برکت اخستل روادی.

درے لره کړو

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ تُوُفِّيَتْ إِحْدَى بَنَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ قَالَتْ أَتَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ وَنَحْنُ نَغْسِلُ ابْنَتَهُ وَفِي حَدِيثِ مَالِكٍ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ حِينَ تُوُفِّيَتْ ابْنَتُهُ بِمِثْلِ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ زُرَيْعٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ

أُمّ عطیه ؓ ویلی دی چه د نبی کریم یو لور وفات شوه او د ابن عُلَیه په روایت کښې دی چه زمونږ خواله رسول الله ﷺ راغے او مونږ د هغهٔ لور ؓ لره غسل ورکولو. او د مالک ؒ په روایت کښې دی چه داخل شو په مونږ کښې رسول الله ﷺ کله چه د هغهٔ لور ؓ وفات وشوه. لکه چه د یزید بن زریع په حدیث کښې چه د ایوب نه مروی دے. او ایوب د محمد نه او هغه د أُمّ عطیه ؓ نه روایت کړے دے.

عَنْ حَفْصَةَ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ بِنَحْوِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكِ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذَلِكِ فَقَالَتْ حَفْصَةُ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ وَجَعَلْنَا رَأْسَهَا ثَلَاثَةَ قُرُونٍ

حفصے ؓ د أُمّ عطیه ؓ نه هم دغه شان روایت کړے دے. مګر دومره فرق دے. چه په دے کښې ئے دا ویلی دی. چه غسل ورکړئ هغې لره درے ځله یا پنځهٔ ځله یا اووهٔ ځله ددے نه زیات کهٔ چرے تاسو ضرورت ګنړئ او حفصه ؓ وائی چه أُمّ عطیه ؓ ویلی دی چه مونږ د هغے د سَر ویښتهٔ درے لره کړل[1].

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ لَمَّا مَاتَتْ زَيْنَبُ بِنْتُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اغْسِلْنَهَا وِتْرًا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا وَاجْعَلْنَ فِي الْخَامِسَةِ كَافُورًا أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ فَإِذَا غَسَلْتُنَّهَا فَأَعْلِمْنَنِي قَالَتْ فَأَعْلَمْنَاهُ فَأَعْطَانَا حَقْوَهُ وَقَالَ أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ

أُمّ عطیه ؓ ویلی دی چه کله د رسول الله ﷺ لور زینب ؓ وفات شوه. نو حضرت ؐ مونږ ته اوفرمایل. چه هغے لره تاتکے ځله اولمبوئ یعنی درے ځله ئے اولمبوئ یا پنځهٔ ځله او د پنځم ځل په اوبو کښې کافور یا ئے اوفرمایل لږ شان کافور اوغورځوئ بیا چه کله اولمبولے شی نو ماله خبر راکړئ بیا چه کله مونږ خبر ورکړو نو هغهٔ تهبند را اوغورځوو. او اوئے فرمایل چه ددے کپړه دکفن د ننه کړئ «یعنی د بدن سره ئے اولګوئ چه د برکت سبب شی»

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ أَتَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَغْسِلُ إِحْدَى بَنَاتِهِ فَقَالَ

أُمّ عطیه ؓ فرمایلی دی چه رسول الله ﷺ تشریف راوړو. او مونږ د هغهٔ یوے لور لره لمبوله حضرت ؐ اوفرمایل. چه طاق ځله غسل ورکړئ

[1] لکه یو لړ د مخکښې ویښتو او دوه ئے د روستو ویښتو کړل. لکه چه په نورو روایتونو کښې راغلی دی. او ددے نه ګومنزول د ویښتو د مړی مستحب شو او دغه مذهب دے د شافعی او احمد او اسحق او اوزاعی رحمهم الله. اګر چه د حنفیو په نز مستحب نهٔ دی. او دا حدیث په هغوی باندے حجت دے.

اغْسِلْنَهَا وِتْرًا خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ بِنَحْوِ حَدِيثِ أَيُّوبَ وَعَاصِمٍ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ قَالَتْ فَضَفَرْنَا شَعْرَهَا ثَلَاثَةَ أَثْلَاثٍ قَرْنَيْهَا وَنَاصِيَتَهَا

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ أَمَرَهَا أَنْ تَغْسِلَ ابْنَتَهُ قَالَ لَهَا ابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا

عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَبِيلِ اللهِ نَبْتَغِي وَجْهَ اللهِ فَوَجَبَ أَجْرُنَا عَلَى اللهِ فَمِنَّا مَنْ مَضَى لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ فَلَمْ يُوجَدْ لَهُ شَيْءٌ يُكَفَّنُ فِيهِ إِلَّا نَمِرَةٌ فَكُنَّا إِذَا وَضَعْنَاهَا عَلَى رَأْسِهِ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ وَإِذَا وَضَعْنَاهَا عَلَى رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعُوهَا مِمَّا يَلِي رَأْسَهُ وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ الْإِذْخِرَ وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا

پنځهٔ خله یا زیات لکه چه د ایوب او عاصم په روایت کښې راغلی دی . او په دے حدیث کښې دی چه اُمِ عطیهؓ ویلی دی بیا مونږ د هغے د ویختو دری کونځې جوړے کړے دوه په اوګو او یوه په تندی

اُمِ عطیهؓ ویلی دی چه کله مونږ ته رسول الله ﷺ حکم اوکړو د هغهٔ لورؓ ته د غسل ورکولو. نو اوئے فرمایل هر اندام لړهٔ د ښی طرفنه شروع کړئ او مخکښې د اودس اندامونو لره وینځئ.

خبابؓ ویلی دی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د خدائے په لار کښې هجرت اوکړو. زمونږ غرض دا وو چه الله راضی نشی. پس زمونږه مزدوری په الله باندے شوه. پس ستاسو نه چا داسی کړی دی چه هغه د خپلے مزدورئ یوه حصه په دنیا کښې نهٔ وی خوړلی په هغوی کښې یو مصعب بن عمیرؓ وو. چه هغه په جنګِ احد کښې شهید شو. چه د هغهٔ کفن د یو څادر نه سوا څهٔ میلاؤ نهٔ شو. او هغه هم داسے وو چه کله به مونږ د هغهٔ په سر باندے واچوؤ نو خپے به ئے وتلے (ښکارے ذے به) او کهٔ په خپو به ئے اوچوؤ نو سر به ئے وتلو (ښکارے دهٔ به). بیا رسول الله ﷺ اوفرمایل . چه څادر خوئے په سر باندے واچوئ . او خپو لره ئے په سَرکړی پتیے کړئ (اذخر یو قسم وابنهٔ دے چه په مدینه کښې ډیر کیږی) او په مونږ کښې څوک داسے دے . چه د هغهٔ میوه پخه شوی ده. او هغه د هغے نه شُکوی او خوری (یعنی په دنیا کښې ئے هم د ایمان په سبب سره ترقی اوموندہ)[1].

---

[1]: دد ے نه معلومه شوه چه کفن د مړی د مال نه کول پکار دی. او هغه د قرض په ادا کولو باندے مقدم دے. خکه چه نبی کریم صلی اللله علیه وسسلم د هغهٔ د کفن حکم اوفرمایهٔ. او دا تپوس ئے او نهٔ کړو چه په دهٔ باندے قرض شته یا نشته. او اذخر یو قسم له خوشبویه وابنهٔ دے. او دد ے نه معلومه شوه چه کهٔ چرے کفن کم وی نو د سر طرفته دِ کړی او خپے دِ ښکاره پریږدی. نو په څهٔ بل څهٔ خیز سره د پتیے کړی. او کهٔ چرے ډیر کم وی. نو ستر د عورت د پرے اوکړی خکه چه د هغے پټول فرض دی. او ددی نه د صحابهٔ کرامو

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُفِّنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ مِنْ كُرْسُفٍ لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ أَمَّا الْحُلَّةُ فَإِنَّمَا شُبِّهَ عَلَى النَّاسِ فِيهَا أَنَّهَا اشْتُرِيَتْ لَهُ لِيُكَفَّنَ فِيهَا فَتُرِكَتِ الْحُلَّةُ وَكُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ فَأَخَذَهَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ لَأَحْبِسَنَّهَا حَتَّى أُكَفِّنَ فِيهَا نَفْسِي ثُمَّ قَالَ لَوْ رَضِيَهَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِنَبِيِّهِ لَكَفَّنَهُ فِيهَا فَبَاعَهَا وَتَصَدَّقَ بِثَمَنِهَا

أُم المؤمنين حضرت عائشے فرمايلي دي چه رسول الله ﷺ ته په درے سپينو کپړو کښې کفن ورکړے شو چه د سحول جوړ شوی وو (سحول په يمن کښې د يو ځائے نوم دے) چه هغه د مالوچو وو. چه په هغے کښې نه قميص وو نه پټکے. او د حُلے خلقو ته شک راغے. حقيقت دا دے چه حُله د هغهٔ دپاره اخستے شوے وه. چه هغه به پکښې کفن کوو. بيائے پريخوده حُله او په دريو څادرو کښې ئے کفن کړو. چه د سپين سحول جوړ شوی وو. او حُلے لره عبد الله خوئ د ابی بکر واخسته او وئے ويل چه زهٔ دے لره سنبالوم. او زهٔ به خپل کفن دد ے نه کوم. بيائے اووے کهٔ چرے الله ته دا غوره وے. نو د هغهٔ د نبی ﷺ د کفن پکار به راغلے وو. نو هغهٔ ئے خرڅ کړو. او د هغے قيمت ئے خيرات کړو[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُدْرِجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حُلَّةٍ يَمَنِيَّةٍ كَانَتْ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ ثُمَّ نُزِعَتْ عَنْهُ وَكُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ سُحُولٍ يَمَانِيَةٍ لَيْسَ فِيهَا عِمَامَةٌ وَلَا قَمِيصٌ فَرَفَعَ عَبْدُ اللهِ الْحُلَّةَ فَقَالَ أُكَفَّنُ فِيهَا ثُمَّ قَالَ

أُم المؤمنين حضرت عائشه فرمائی چه رسول الله ﷺ ته په درے يمنی څادرو کښې کفن ورکړے شو چه د عبد الله بن ابوبکر وو. بيا هغه څادر راوخکلے شو او په دريو سحولی يمنی کپړو کښې کفن کړے شو چه په هغے کښې پټکے او قميص نهٔ وو. بيا عبد الله هغه څادر واخستهٔ او وئے ويل چه ماله به په دے کښې کفن راکړے کيږی. بيا ئے اووے

رضی الله عنهم اخلاص او زُهد معلوميږی چه بغير د خُهٔ دنيا د لذت نه د الله او د رسول صلی الله عليه وسلم عاشقان وو. او د خدائے په لاره کښې روح ورکول ئے فخر گڼړل. په هغه حال کښې هم د الله پاک شکر گزار او ثنا خوان وو.

[1] حُله په عربئ کښې څادر او تهبند ته ويلے کيږی او حضرت صلی الله عليه وسلم لره په دغه دريو کپړو کښې کفن ورکړے شو. ولے چه خلورمه کپړه د هغهٔ سره نهٔ وه. او دغه ظاهر حديث دے. او دا تفسير کړے دے امام شافعی رحمه الله او جمهور علماؤ. او امام مالک او امام ابو حنيفه رحمهما الله وائی چه ددغه دريو نه سوا قميص او پټکے هم مستحب دے. او هغوی دد ے حديث مطلب دا بيان کړے دے چه دا درے کپړے د قميص او پټکی نه سوا وے. او په دے صورت کښې به پنځهٔ کپړے شی. مگر دا ضعيف دے. ځکه چه د چا معتبر روايت نه نهٔ دے ثابت شوے چه د هغهٔ په کفن کښې قميص او پټکے وو. او گويا دد ے حديث نه دا هم ثابته شوه. چه په کوم قميص کښې هغهٔ ته غسل ورکړے شوے وو. هغه روسته د غسل نه اوويستلے شو او دغه بنهٔ کار دے. او دا بن عباس نه چه کوم روايت دے چه هغه له کفن ورکړے شو په دريو کپړو کښې او په يوه حُله کښې او په هغهٔ دوه کُرتو کښې چه په هغے کښې د هغهٔ وفات شوی وو نو دا روايت ضعيف دے. او د حجت گرځولو قابل نهٔ دے. ځکه چه يزيد بن ابی زياد يو راوی دد ے داسے دے چه د هغهٔ په ضعف ترلو اتفاق کړے دے. او خاص په دے چه د نورو ثقه راؤيانو خلاف وائی.

لَمْ يُكَفَّنْ فِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُكَفَّنُ فِيهَا فَتَصَدَّقَ بِهَا

چه په دیکښې رسول الله ﷺ ته کفن ورنهٔ کړے شو او ماله به پکښې کفن راکړے کیږی؟ نو هغهٔ هغه څادر خیرات کړو.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهَا فِي كَمْ كُفِّنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ سَحُولِيَّةٍ

ابو سلمهؓ نه روایت دے هغوی ویلی دی ما د رسول الله ﷺ د پاکے بی بی حضرت عائشےؓ نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ نه په څو نه کپړو کښې کفن ورکړے شو؟ نو هغوی اووے چه په دریو کپړو کښې چه د سحول جوړے وے.

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ سُجِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ مَاتَ بِثَوْبِ حِبَرَةٍ

حضرت عائشهؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ چه کله وفات شو نو په هغهٔ د یمن څادر واچولے شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يُحَدِّثُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ يَوْمًا فَذَكَرَ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِهِ قُبِضَ فَكُفِّنَ فِي كَفَنٍ غَيْرِ طَائِلٍ وَقُبِرَ لَيْلًا فَزَجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقْبَرَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهِ إِلَّا أَنْ يُضْطَرَّ إِنْسَانٌ إِلَى ذَلِكَ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَفَّنَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُحَسِّنْ كَفَنَهُ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ یوه ورځ خطبه لوستله او د خپلو صحابو نه د یو سړی ذکر ئے اوکړو. چه د هغهٔ انتقال شوے وو. او هغهٔ لره ئے داسے کفن کړے وو چه په هغے سره ئے ستر نهٔ پټیدهٔ. او د شپے ئے کفن کړے وو. پس اورتلو مونږ رسول الله ﷺ په دے خبره چه د شپے ئے دفن کړے وو چه حضرتؐ ئے مونځ اونهٔ کړو او داسے نهٔ دی کول مګر کله چه انسان ناچاره شی. او هغوی اوفرمایل کله چه ستاسو نه څوک خپل رور له کفن ورکوی نو ښهٔ کفن د ورکړی (یعنی چه د هغهٔ تول بدن لره ښهٔ پټونکے وی)[1].

[1] کیدے شی. چه د هغهٔ خفګان په دے وجه سره راغلے چه بغیر د حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مانځهٔ نه ئے هغهٔ لره دفن کړلو. او د شپے په دفن کولو کښې د جنازے د مونځ کونکو کمے وی. او په کومو وختونو کښې چه مونځ مکروه دے. او د جنازے مونځ منع دے. په هغے کښې د امام شافعی رحمه الله مذهب دے. چه مړے دفن کول مکروه نهٔ دی. مګر دا مکروه دی چه دغه وخت لره خامخا تلاش کړی او دفن کړی. او امام مالک رحمه الله ویلی دی چه مونځ د جنازے به نهٔ کوی روستو د اسفار نه د کومې پورے چه نمر راختلے نهٔ وی. او روستو د نمر د زیړیدو نه هم د کومې پورے چه نمر پریوتے نهٔ وی. مګر دا چه د څهٔ خبرے یره وی. او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز به په دے درے وختونو کښې د جنازے مونځ نهٔ کوی. یعنی د نمر د راختو په وخت او د ډوبیدو په وخت او بالکل د غرمے په وخت. او لیث هم په تولو ممنوعه وختونو کښې دفن کولو ته مکروه ویلی دی. د ښهٔ کفن ورکولو نه مراد دا نهٔ دے چه اسراف د اوکړی. او د ګران قیمت کپړه د واخلی. بلکه مراد دا دے چه کپړه پاکه او صفا وی او د درمیانه قیمت وی. (نووی رحمه الله)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ لَعَلَّهُ قَالَ تُقَدِّمُونَهَا عَلَيْهِ وَإِنْ تَكُنْ غَيْرَ ذٰلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ

ابوهریرهؓ فرمایلي دي چه نبی کریم ﷺ فرمایلي دي په جنازه وړلو کښې جلتي کوئ: ځکه چه که چرې نیک وي نو هغه د خیر طرفته اورسوئ: او که چرې بد دے نو د خپلو څټونو نه ئې لرے کوئ[1].
مسلمؒ ویلي دي او روایت کړے دے ما ته دا حدیث محمد بن رافع او عبد بن حمید دواړو د عبد الرّزاق نه هغوی د معمر نه. او ویلي دي مسلمؒ چه روایت کړے دے ما ته یحیٰی بن حبیب هغهٔ ته روح بن عبادهؒ هغهٔ ته محمد بن ابی حفصه دواړو روایت کړے دے د زهري نه. هغوی د سعید نه هغوی د ابوهریرهؓ نه هغوی د نبی کریم ﷺ نه مګر د معمر په حدیث کښې دا دي چه زهٔ نهٔ یم خبر مګر هغوی مرفوع کړے دے دے لره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَهِدَ الْجَنَازَةَ حَتَّى يُصَلِّيَ عَلَيْهَا فَلَهُ قِيرَاطٌ وَمَنْ شَهِدَهَا حَتَّى تُدْفَنَ فَلَهُ قِيرَاطَانِ قِيلَ وَمَا الْقِيرَاطَانِ قَالَ مِثْلُ الْجَبَلَيْنِ الْعَظِيمَيْنِ انْتَهَى حَدِيثُ أَبِي الطَّاهِرِ وَزَادَ الْآخَرَانِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَ سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُصَلِّي عَلَيْهَا ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَلَمَّا بَلَغَهُ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَقَدْ ضَيَّعْنَا قَرَارِيطَ كَثِيرَةً

ابوهریرهؓ ویلي دي چه رسول اللهﷺ فرمایلي دي چه څوک حاضر شو جنازے ته د هغې پورے چه مونځ اوکړي د جنازے هغهٔ لره د قیراط ثواب دے. او څوک چه د دفن کیدو پورے حاضر پاتې شي د هغهٔ دپاره د دوو قیراطو ثواب دے. راوي وائي. دوه قیراطه څومره وي؟ وائي چه د دوو لویو غرونو برابر دي. د ابوالطاهر حدیث ختم شو. او نورو دوو راؤیانو دا زیاته کړه. ویلي دي چه ابن شهاب وائي چه سالم ویلي دي چه د ابن عمرؓ عادت وو چه مونځ به ئې اوکړو د جنازے نه به لاړو. بیا چه ئې کله د ابوهریرهؓ دا روایت واوریدو. نواوئې ویل چه مونږ خو ډیر زیات قیراطونه ضائع کړل (یعنی افسوس ئې اوکړو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

ابوهریرهؓ د نبی کریم ﷺ نه دغه شان روایت کړے دے. تر دے

---

[1] جنازه چه واخلي نو په جلتي سره تلل مستحب دي. نه په منډه چه د جنازے د غورځیدو یره وي. او د جنازے اوچتول فرض کفایه دي او په دے باندے اتفاق دے چه خاص سړي به ئې اوچتوي اګر که جنازه د ښځې وي ځکه چه سړے طاقتور وي د ښځو نه. او د دے نه دا هم معلومه شوه چه د ناکاره صحبت نه بچ کیدل ضروري دي اګر که هغه بده جنازه هم وي. چه هغهٔ اوفرمایل چه زر ئې د خپلو څټونو نه کوزوي.

وَسَلَّمَ إِلَى قَوْلِهِ الْجَبَلَيْنِ الْعَظِيمَيْنِ وَلَمْ يَذْكُرَا مَا بَعْدَهُ وَفِي حَدِيثِ عَبْدِ الْأَعْلَى حَتَّى يُفْرَغَ مِنْهَا وَفِي حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ حَتَّى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ

پورے چه د دوه لویو لویو غرونو ذکر ئے اوکړو. او عبد الاعلی ددے پورې چه فارغ شي د هغے د دفن نه (دا لفظ ئے اووے) او عبد الرزاق ویلي دي چه تر دے پورې چه کیښودے شي مړے په قبر کښ[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ وَلَمْ يَتْبَعْهَا فَلَهُ قِيرَاطٌ فَإِنْ تَبِعَهَا فَلَهُ قِيرَاطَانِ قِيلَ وَمَا الْقِيرَاطَانِ قَالَ أَصْغَرُهُمَا مِثْلُ أُحُدٍ

ابوهریره د نبی کریم ﷺ نه روایت کړے دے چه څوک د جنازے مونځ اوکړی او ورسره لاړ نه شي هغۀ لره یو قیراط دے. او څوک چه ورسره لاړ شي هغوی لره دوه قیراطونه دي. چا تپوس اوکړو چه دوه قیراطونه څۀ دي؟ هغوی اوفرمایلي چه وړوکے په هغے کښ د اُحد د غر برابر دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً فَلَهُ قِيرَاطٌ مِنَ الْأَجْرِ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ أَكْثَرَ عَلَيْنَا أَبُو هُرَيْرَةَ فَبَعَثَ إِلَى عَائِشَةَ فَسَأَلَهَا فَصَدَّقَتْ أَبَا هُرَيْرَةَ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ لَقَدْ فَرَّطْنَا فِي قَرَارِيطَ كَثِيرَةٍ

ابوهریره د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی هغۀ فرمایلي وو. څوک چه د جنازے سره لاړ شي هغۀ لره د یو قیراط ثواب دے. نو ابن عمر اووے. ابوهریره خو ډیر روایتونه کوی (یعنی د هغۀ په روایت کښ ئے شک اوکړو) نو د حضرت عائشے ته ئے تپوس کونکے اولیږو. نو هغوی د ابوهریره خبرے ته ریښتونے اووے. نو بیا حضرت ابن عمر اووے چه مونږ خو ډیر قیراطونه کم کړل[2].

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ حَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ كَانَ قَاعِدًا عِنْدَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ إِذْ طَلَعَ خَبَّابٌ صَاحِبُ الْمَقْصُورَةِ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ أَلَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ خَرَجَ مَعَ جَنَازَةٍ مِنْ بَيْتِهَا وَصَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ تَبِعَهَا

عامر بن سعد د عبد الله بن عمر سره ناست وو. چه خُباب مقصورے والا راغے. او اوئے ویل. چه اے عبد الله! اورے چه ابوهریره څۀ وائی. وائی چه هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه څوک د جنازے سره د خپل کورنه اووتلو. او په هغے باندے ئے مونځ اوکړو او ورسره لاړو د دفن کیدو د ختائے پورے. نو هغۀ لره د دوو قیراطو ثواب دے. هر قیراط د اُحد برابر دے. او څوک چه د

[1] ددے حدیث نه معلومه شوه چه ثواب د دویم قیراط به هله میلاویږی چه د دفن کیدو نه د فارغ کیدو پورے حاضر پاتے شي.

[2] ددے حدیث نه کمال علم د جناب حضرت عائشے اُمُ المؤمنین رضی الله عنها او د هغے کمال جامعیت معلوم شو چه د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم په خیال کښ عام طور دا خبره ناسته وه چه په کوم روایت کښ به ئے شک و. یا به ئے ددین په یوه مسئله کښ شبه شوه نو د هغے نه به ئے معلومات کول. سبحان الله داسے مور کوم اُمت ته ورکړے شوے ده. ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ.

حَتّٰی تُدۡفَنَ كَانَ لَهٗ قِيرَاطَانِ مِنۡ أَجۡرٍ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثۡلُ أُحُدٍ وَمَنۡ صَلّٰى عَلَيۡهَا ثُمَّ رَجَعَ كَانَ لَهٗ مِنَ الۡأَجۡرِ مِثۡلُ أُحُدٍ فَأَرۡسَلَ ابۡنُ عُمَرَ خَبَّابًا إِلٰى عَائِشَةَ يَسۡأَلُهَا عَنۡ قَوۡلِ أَبِي هُرَيۡرَةَ ثُمَّ يَرۡجِعُ إِلَيۡهِ فَيُخۡبِرُهٗ مَا قَالَتۡ وَأَخَذَ ابۡنُ عُمَرَ قَبۡضَةً مِنۡ حَصۡبَاءِ الۡمَسۡجِدِ يُقَلِّبُهَا فِي يَدِهٖ حَتّٰی رَجَعَ إِلَيۡهِ الرَّسُولُ فَقَالَ قَالَتۡ عَائِشَةُ صَدَقَ أَبُو هُرَيۡرَةَ فَضَرَبَ ابۡنُ عُمَرَ بِالۡحَصَى الَّذِي كَانَ فِي يَدِهِ الۡأَرۡضَ ثُمَّ قَالَ لَقَدۡ فَرَّطۡنَا فِي قَرَارِيطَ كَثِيرَةٍ

جنازے د مانځهٔ کولو سره واپس شی. نو هغهٔ ته د احد برابر ثواب میلاویږی. نو ابن عمر خُباب لره د مؤمنانو د مور حضرت عائشے په خدمت کښی اولیږلو. چه د ابوهریره د هغے خبرے تپوس اوکړی. هغه لاړو او واپس راغے او ابن عمر یو ډک موټے ګیټیٔ په لاس کښی واخستے. او هغے لره ئے اړول را اړول شروع کړل (یعنی په فکر کښی وو) غرض دا چه هر کله هغه واپس راغے نو اوئے ویل. چه حضرت عائشه د ابوهریره خبری ته رښتیا اووے. بیا عبد الله بن عمر ګیټیٔ د لاس نه اوغورځولے. او اوئے فرمایل افسوس مونږ د ډیرو قیراطونو کمے اوکړو.

مسلم ویلی دی روایت کړے دے مونږ ته ابن بشار د معاذ نه او هغوی د خپل پلار نه. او مسلم ویلی دی چه روایت کړے دے ما ته ابن مثنٰی هغهٔ ته ابن ابی عدی هغهٔ ته سعید. او مسلم ویلی دی چه روایت کړے دے ما ته زهیر هغهٔ ته عفان او هغهٔ ته آبان، دے تولو روایت کړے دے د ابوقتاده نه د دے اسناد سره په شان د پورته روایت. او د سعید او د هشام په روایت کښی دی چه چا د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو د قیراط په باره کښی نو هغهٔ اوفرمایل. چه یو قیراط د احد د غر برابر دے.

عَنۡ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنۡ مَيِّتٍ تُصَلِّي عَلَيۡهِ أُمَّةٌ مِنَ الۡمُسۡلِمِينَ يَبۡلُغُونَ مِائَةً كُلُّهُمۡ يَشۡفَعُونَ لَهٗ إِلَّا شُفِّعُوا فِيهِ قَالَ فَحَدَّثۡتُ بِهٖ شُعَيۡبَ بۡنَ الۡحَبۡحَابِ فَقَالَ حَدَّثَنِي بِهٖ أَنَسُ بۡنُ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ

حضرت عائشه د نبی کریم ﷺ نه روایت کړے دے. چه هغهٔ اوفرمایل. یو مړے داسے نهٔ دے چه په هغهٔ باندے د مسلمانانو یو جماعت چه د هغوی شمار سلو ته رسیدلے وی. او بیا دغه تول د هغهٔ شفاعت غواړی (یعنی د الله نه د هغهٔ د مغفرت دُعا اوکړی) مګر ضرور به د هغوی شفاعت قبول وی. راوی ویلی دی ما دا روایت شعیب بن حجاب ته بیان کړو. نو هغوی اووے ما ته انس بن مالک د رسول الله ﷺ نه روایت کړے دے.

تشريح: ويلې دي زهٔ اميد لرم چه الله تعالى خما په جنازه باندے پاکه عقيده لرونکي مؤمنانو لره جمع کړي. او د هغوی شفاعت خما په حق کښې قبول کړي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ مَاتَ ابْنٌ لَهُ بِقُدَيْدٍ أَوْ بِعُسْفَانَ فَقَالَ يَا كُرَيْبُ انْظُرْ مَا اجْتَمَعَ لَهُ مِنَ النَّاسِ قَالَ فَخَرَجْتُ فَإِذَا نَاسٌ قَدِ اجْتَمَعُوا لَهُ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ تَقُولُ هُمْ أَرْبَعُونَ قَالَ نَعَمْ قَالَ أَخْرِجُوهُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوتُ فَيَقُومُ عَلَى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُونَ رَجُلًا لَا يُشْرِكُونَ بِاللهِ شَيْئًا إِلَّا شَفَّعَهُمُ اللهُ فِيهِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ مَعْرُوفٍ عَنْ شَرِيكِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ

د عبد الله بن عباسؓ يو ځوئ مړ شو په قديد يا عسفان کښې (قديد او عسفان د مقاماتو نومونه دي) نو هغوی کريب ته اووے. چه ته اوګوره څومره خلق جمع شوي دي. (يعني د جنازے د مونځ دپاره) کريب ويلې دي زهٔ لاړم او اوم کتل چه خلق جمع شوي دي. او هغه مے خبر کړو. ابن عباسؓ اووے ستا په اندازه سره هغه څلويښت دي؟ ما اووے آو. هغه اووے جنازه اوباسئ. ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي. چه د چا مسلمان په جنازه کښې څلويښت سړي داسے وي چه هغوی د الله تعالى سره هيڅ يو څيز لره شريک کړے نهٔ وي. نو الله تعالى د هغهٔ په حق کښې ضرور د هغوی شفاعت قبلوي. د ابن معروف په روايت کښې داسې دي چه هغوی د شريک ابن ابی نمر نه روايت کړے دے. هغوی د کريب نه هغوی د ابن عباسؓ نه

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مُرَّ بِجَنَازَةٍ فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا خَيْرًا فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَبَتْ وَجَبَتْ وَجَبَتْ وَمُرَّ بِجَنَازَةٍ فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا شَرًّا فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَبَتْ وَجَبَتْ وَجَبَتْ قَالَ عُمَرُ فِدًى لَكَ أَبِي وَأُمِّي مُرَّ بِجَنَازَةٍ فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا خَيْرٌ فَقُلْتَ وَجَبَتْ وَجَبَتْ وَجَبَتْ وَمُرَّ بِجَنَازَةٍ فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا شَرٌّ فَقُلْتَ وَجَبَتْ وَجَبَتْ وَجَبَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا وَجَبَتْ لَهُ

انس بن مالکؓ ويلې دي چه يو جنازه تيره شوه. او خلقو هغے ته ښهٔ اووے. نبی کريم ﷺ اوفرمايل. واجب شو درے خله ئے اوفرمايل. بيا دويمه جنازه تيره شوه. نو خلقو اووے هغے ته بد وو. پس نبی کريم ﷺ اوفرمايل واجب شو درے خله ئې اوفرمايل. پس حضرت عمرؓ عرض اوکړو. خما پلار مور دِ ستا نه قربان وي. يوه جنازه تيره شوه او خلقو هغے ته ښهٔ اووے. تا درے خله اوفرمايل چه واجب شو. او دويمه تيره شوه او خلقو هغے ته بَد اووے. تا درے خله اوفرمايل چه واجب شو (ددے مطلب څهٔ دے؟ څهٔ څيز واجب شو) حضرتؐ اوفرمايل. چا ته چه تاسو ښهٔ اووے. د هغهٔ دپاره جنت

الْجَنَّةُ وَمَنْ أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ

واجب شو. او چا ته چه بد اووے د هغهٔ دپاره دوزخ واجب شو. تاسو په زمکه کښې د الله گواه یئ تاسو په زمکه کښې د الله گواه یئ تاسو په زمکه کښې د الله گوایئ [1].

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ بْنِ رِبْعِيٍّ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَالَ مُسْتَرِيحٌ وَمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ مَا الْمُسْتَرِيحُ وَ الْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ فَقَالَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ

ابو قتاده روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ اوفرمایل کله چه د هغهٔ په خواه یوه جنازه تیره شوه. چه دا پخپله آرام موندلو والا دے. او ددهٔ په تلو سره نورو خلقو آرام اوموندو. خلقو عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ددے مطلب څهٔ دے؟ حضرت ﷺ اوفرمایل. مومن ددنیا د تکلیفونو نه آرام مومی (یعنی د مرگ په وخت) او د بد (یعنی ناکاره خراب بنده) بنده په تلو سره بندیگان، او ښهرونه، اوونې او ځناور آرام مومی [2].

---

[1] په دے حدیث کښې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یوے کلمے لره درے درے خله د اهتمام او تاکید په واسطه اوفرمایله او د صحابهٔ کرامو ښهٔ ویل د واقع مطابق وو. ځکه ئے هغوی ته د الله ثالی گواه اووے. او مړی ته ئے جنتی اوفرمایل. او الله تعالی د نیکانو دپاره د مؤمنانو په زړونو کښې نیکی پیدا کوی او د بدانو بدی پیدا کوی. او صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم چه کوم مړی ته بد ویلے دے. په هغے باندے اعتراض شوے دے. چه ولے ئے ورته بد ویلی دی. حالانکه په حدیث کښې شریف کښې راغلی دی چه د مړو ذکر په خیر سره کوئ نو جواب د هغے دادے چه دا حدیث د د هغه مړو دپاره دے چه د هغوی نفاق او بدعت او فسق ښکاره نهٔ وی. او کوم چه ښکاره وی. منافق یا بدعتی وی هغهٔ ته په دے غرض سره ویل چه خلق ئے د چال چلن او ناستے ولاړے نه پرهیز اوکړی روا دی. چه په دے کښې د نورو ژوندو خیر خواهی او نیکی ده. او ددے دپاره محدثینو ویلی دی چه د چا صحابهٔ کرامو بد ویلی وو. هغه ښهٔ ښکاره منافق وو.

[2] معلومه شوه چه په گناه سره صرف بنده په خپله یواځے نهٔ خرابیږی. بلکه ټول مخلوق الهی ته د هغهٔ نه تکلیف رسیږی او ټول گنهگار د هغهٔ نه تکلیف مومی.

مسلم رحمه الله ویلی دی. او روایت کړے دے ماته محمد بن مثنی هغهٔ ته یحیی. او ویلی دی روایت کړے دے مونږ ته اسحق هغهٔ ته عبد الرّزاق دواړو (یعنی یحیی او عبد الرّزاق) د عبد الله بن سعید نه. هغوی د محمد بن عمرو نه. هغوی د کعب بن مالک رضی الله عنه د یو ځوئ نه. هغوی د قتاده رضی الله عنه نه. هغوی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه. او د یحیی په حدیث کښې دا الفاظ دی. يَسْتَرِيحُ مِنْ أَذَى الدُّنْيَا وَنَصَبِهَا إِلَى رَحْمَةِ اللهِ. یعنی مؤمن ددنیا د تکلیفونو نه او د هغے د غم نه آرام مومی. او د الله د رحمت په طرف ځانے کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى لِلنَّاسِ النَّجَاشِيَّ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ فَخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى وَكَبَّرَ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ

ابوهریره ویلی دی چه رسول الله ﷺ د نجاشی د مرګ خبر ورکړو په کومه ورځ چه د هغهٔ انتقال اوشو. او جنازګاه ته لاړو. او څلور تکبیرونه ئے ادا کړل (یعنی مونځ د جنازے ئے اوکړو)[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ نَعَى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّجَاشِيَّ صَاحِبَ الْحَبَشَةِ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ فَقَالَ اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَحَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفَّ بِهِمْ بِالْمُصَلَّى فَصَلَّى فَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ

ابوهریره ویلی دی چه خبر راکړو مونږ له رسول الله ﷺ د حبشے د بادشاه نجاشی د مرګ په کومه ورځ چه هغوی وفات شو. او اوئے فرمایل چه د خپل رور دپاره مغفرت اوغواړئ (دا همدردی ده) ابن شهاب ویلی دی. روایت کړے دے ما ته سعید بن مُسیب او ابوهریره. هغهٔ بیان کړے دے. چه رسول الله ﷺ د خپلو صحابهٔ کرامو سره صف اوتړلو په جنازګاه کښ او د جنازے مونځ ئے اوکړو او څلور تکبیرونه ئے اوویل.

مسلم ویلی دی. چه روایت کړے دے ما ته عمرو ناقد، او حسن حلوانی، اوعبدبن حمید، تولو ویلی دی چه روایت کړے دے مونږ ته یعقوب چه هغه دابراهیم بن سعد خوئ دے هغوی روایت کړے دے مونږ ته. ویلی دی چه خبر راکړے دے ماله څما پلار هغوی د صالح نه هغوی د ابن شهاب نه پشان د عقیل د روایت په دوارو سندونو سره.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى أَصْحَمَةَ النَّجَاشِيِّ فَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعًا

جابر بن عبدالله ویلی دی چه رسول الله ﷺ مونځ اوکړو په اصمحه باندے چه د هغهٔ لقب نجاشی وو. او څلور تکبیرونه ئے اوویل.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَ الْيَوْمَ عَبْدٌ لِلَّهِ صَالِحٌ أَصْحَمَةُ فَقَامَ فَأَمَّنَا وَصَلَّى عَلَيْهِ

جابر بن عبدالله ویلی دی رسول الله ﷺ اوفرمایل نن د الله یو نیک بنده اصمحه وفات کړے شو. او هغه اودریدو او زمونږه امام شو او په هغهٔ باندے ئے مونځ اوکړو.

---

[1] د دے حدیث نه د جنازے مونځ ثابت شو. او په دے باندے اجماع ده. چه هغه فرض کفایه دے. او صحیح ده. چه دیو سری نه هم ادا کیدے شي. او فرض ادا کیږي. او د جنازے څلور تکبیرونه تر نه هم ثابت شو. او مذهب د شافعیو او د جمهورو هم دغه دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَخًا لَكُمْ قَدْ مَاتَ فَقُومُوا فَصَلُّوا عَلَيْهِ قَالَ فَقُمْنَا فَصَفَّنَا صَفَّيْنِ

جابر بن عبد الله ویلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل. ستاسو د یو رور وفات أوشو. پس اودریدو او مونږ ئے اوکړو په هغهٔ باندے. بیا مونږ اودریدو او هغه دوه صفونه جوړ کړل.

عَنِ الشَّعْبِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى قَبْرٍ بَعْدَ مَا دُفِنَ فَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعًا قَالَ الشَّيْبَانِيُّ فَقُلْتُ لِلشَّعْبِيِّ مَنْ حَدَّثَكَ بِهٰذَا قَالَ الثِّقَةُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ هٰذَا لَفْظُ حَدِيثِ حَسَنٍ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ نُمَيْرٍ قَالَ انْتَهٰى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى قَبْرٍ رَطْبٍ فَصَلَّى عَلَيْهِ وَصَفُّوا خَلْفَهُ وَكَبَّرَ أَرْبَعًا قُلْتُ لِعَامِرٍ مَنْ حَدَّثَكَ قَالَ الثِّقَةُ مَنْ شَهِدَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ

شعبی ویلی دی چه رسول الله ﷺ په یو قبر مونځ اوکړو د مړی د دفن کیدو نه روستو او څلور تکبیرونه ئے اوویل. شیبانی د شعبی نه تپوس اوکړو. چه تا ته دا حدیث چا بیان کړے دے. هغوی اووے. یو معتبر عبد الله بن عباس دا لفظ د حسن د حدیث دے. او د ابن نمیر په روایت کښ دی. چه اورسیدو رسول الله ﷺ یو تازه قبر ته او مونځ ئے پرے اوکړو. او خلقو په هغهٔ پسی روستو صف جوړ کړو. او څلور تکبیرونه ئے اوویل. ما د عامر نه تپوس اوکړو تا ته دا چا اووے. هغوی اووی یو ثقه چه د هغهٔ سره ابن عباس راغلے وو.

مسلم ویلی دی. روایت کړے دے مونږ ته یحیٰی هغهٔ ته هشیم او ویلی دی. روایت کړے دے ما ته حسن بن ربیع او ابو کامل دواړو روایت کړے د عبد الواحد نه او ویلی دی. روایت کړے دے مونږ ته اسحٰق هغهٔ ته جریر. او ویلی دی روایت کړے دے مونږ ته محمد بن حاتم هغهٔ ته وکیع هغهٔ ته سفیان او ویلی دی چه روایت کړے دے مونږ ته عبید الله بن معاذ هغهٔ ته د هغهٔ پلار. او ویلی دی روایت کړے دے مونږ ته محمد بن مثنٰی هغهٔ ته محمد بن جعفر هغهٔ ته شعبه دغه ټولو ته شیبانی هغهٔ ته شعبی هغوی د ابن عباس نه هغوی د نبی کریم ﷺ نه په مثل د هغے او د بل چا په حدیث کښ دا نشته دے. چه هغه څلور تکبیرونه اوویل.

مسلم ویلی دی. روایت کړے دے مونږ ته اسحٰق او هارون دواړو د وهب نه هغوی د شعبه نه هغوی د اسمٰعیل نه او ویلی دی روایت

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى قَبْرٍ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ أَوْ شَابًّا فَفَقَدَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ عَنْهَا أَوْ عَنْهُ فَقَالُوا مَاتَ قَالَ أَفَلَا كُنْتُمْ آذَنْتُمُونِي قَالَ فَكَأَنَّهُمْ صَغَّرُوا أَمْرَهَا أَوْ أَمْرَهُ فَقَالَ دُلُّونِي عَلَى قَبْرِهِ فَدَلُّوهُ فَصَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ قَالَ إِنَّ هَذِهِ الْقُبُورَ مَمْلُوءَةٌ ظُلْمَةً عَلَى أَهْلِهَا وَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِي عَلَيْهِمْ

کړے دے مونږ ته ابوغسّان مسمعی هغوی د یحیٰی بن ضریس نه هغوی د ابراهیم بن طهمان نه هغوی د ابی حصین نه دواړو د شعبی نه هغوی د ابن عباس نه هغوی د نبی کریم ﷺ نه په قبر باندے د مانځهٔ کولو په باب کښې روایت کړے دے. د شیبانی د حدیث په شان مګر د چا په روایت کښې د څلورو تکبیرونو کولو ذکر نشته دے.

انس وئیلی دی. چه نبی کریم ﷺ په قبر باندے مونځ کړے دے.

ابوهریره وائی. چه یوے تورے ښځی به د جماعت خدمت کولو یا یو ځوان وو. او هغهٔ ته حضرتﷺ ونهٔ مونتو. نو تپوس ئے اوکړو. خلقو عرض اوکړو چه هغه مړ شو. حضرتﷺ اوفرمایل تاسو زهٔ خبر نهٔ کړم. اوئے ویل لکه چه هغوی هغهٔ لره کمزورے اوګڼړو او حضرتﷺ ته ئے تکلیف ورکول مناسب او نهٔ ګڼړل. حضرتﷺ اوفرمایل ماته د هغهٔ قبر اوښایئ. خلقو ورته اوښودهٔ هغهٔ په هغه قبر مونځ اوکړو. او اوئے فرمایل چه دا قبرونه د تیارے نه ډک دی او الله تعالی هغے لره رڼا کوی ځما په مونځ کولو سره[1].

[1] : د دے حدیث نه په قبر باندے د جنازے مونځ کول روا دی. او دغه مذهب دے د شافعی رحمه الله. او د مالک رحمه الله ملګرو په دے کښې تاویلاتِ باطله کړی دی. او دے ته ئے ناجائز وئیلی دی او د پیغمبر معصوم علیه السلام د احادیثو په وړاندے د چا وینا نهٔ شی چلیدے. او د دے حدیث نه د رسول الله ښکلی اخلاق او تواضع او د خپلو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم خبر اخستل. او د هغوی د حقوقو خیال ساتل او د هغوی د دنیا او آخرت د مصالح فکر ساتل ثابت او معلومیږی. او وے فرمایل چه ما ته مو خبر ولے نهٔ دے راکړے. د دے نه معلومه شوه. چه د مړی خبر دوستانو ته ورکول دے دپاره چه د هغهٔ د جنازے په مانځهٔ او دفن کولو کښې شریک شی روا دی.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلٰى قَالَ كَانَ زَيْدٌ يُكَبِّرُ عَلٰى جَنَائِزِنَا أَرْبَعًا وَإِنَّهُ كَبَّرَ عَلٰى جَنَازَةٍ خَمْسًا فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُكَبِّرُهَا	عبد الرحمنؒ ویلي دي چه زیدؓ به زمونږ د جنازو په مانځهٔ کښې څلور تکبیرونه ویل او په یوه جنازه پنځهٔ تکبیرونه اوویل. آو مونږ تپوس اوکړو. هغوی اووے چه رسول اللهﷺ به کله ویل[1].

[1] امام نووی رحمه الله ویلي دي. دا حدیث د علماؤ په نزد منسوخ دے. او ابن عبد البر وغیره ددے په منسوخ کیدو باندے اجماع نقل کړے ده. او ویلي دي چه اوس د یو سړے د څلورو تکبیرونو نه زیات نهٔ وائي. او دا دلیل دے په دے چه هغه خلقو د زید بن ارقم نه پس په څلورو تکبیرونو اجماع کړے ده. او د فقهاؤ صحیح قول دا دے چه اجماع روستو د اختلاف نه صحیح ده. ختم شو کلام د امام نووی.

د اردو کتاب مترجم ویلي دي د الله په مدد سره چه کله یو معتبر راوی اووائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځهٔ تکبیرونه ویل نو په اجماع سره څنګه منسوخ کیدے شي فعل د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم د کومے پورې چه په خپله د هغهٔ نه نفی د پنځو په تصریح سره راغلي نهٔ وي. او حال دا دے چه په زاد المعاد کښې ابن قیم رحمه الله لیکلي دي چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پنځهٔ تکبیرونه صحیح شوي دي. او صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به د هغهٔ نه پس څلور هم ویل پنځهٔ به ئے هم او شپږ به ئے هم ویل. ددے نه روستو روایت د زید رضی الله عنه ئے مسلم رحمه الله ته بیان کړو. او بیا ئے اووے چه امام علي بن ابی طالب رضی الله عنه د سهل بن حنیف په جنازه شپږ تکبیرونه اوویل. او په اهل بدر باندے به هغه شپږ تکبیرونه ویل. اوپه نورو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم پنځهٔ، او په نورو خلقو باندے سوا د صحابو رضی الله عنهم نه ئے څلور ذکر کړي دي. ددی دار قطني او سعید بن منصور ذکر کړي دي د حکم نه.هغوی د ابن عیینه نه چه هغوی ویلي دي صحابه کرامو رضی الله عنهم به په خاوندانو د بدر پنځهٔ او شپږ او اووهٔ تکبیرونه ویل. او دا آثار صحیحه دي. نو د څلورو نه د زیاتو منع کولو څهٔ موقع نشته دے. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د څلورو نه زیاتو لره منع نهٔ دی فرمایلي. بلکه هغهٔ او د هغهٔ نه پس صحابو د څلورو نه زیات ویلي دي. او کومو خلقو چه منع کړے ده هغوی د ابن عباسؓ د روایت نه دلیل نیولے دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په آخره جنازه باندے چه کوم مونځ کړے دے. په هغے کښې ئے څلور تکبیرونه ویلي وو. او د هغهٔ دا اخري فعل وو. او د آخر نه آخر فعل د هغهٔ اخستے کیږي. او په دے حدیث حلال په خپل علل کښې کلام کړے دے. او ویلي دي چه ما ته حارث خبر راکړے دے. چه ما د امام احمدؒ نه تپوس اوکړو د ابی الملیحؒ د روایت د میمون نه کوم چه هغوی د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے دے. او هغه حدیث ئے اولوستو. نو امام احمد رحمه الله اوفرمایل دا دروغ دے. دے څهٔ اصل نشته. او دا حدیث روایت کړے دے. محمد بن زیاد طهان او هغه به حدیثونه د خپل زړهٔ نه جوړول. او منع کولو والا دے نه هم دلیل نیولے دے. چه میمون بن مهران د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے دے چه فرښتو کله په آدم علیه السلام باندے د جنازے مونځ کولو نو څلور تکبیرونه ئے ویلي وو او اونے ویل چه اے د آدم علیه السلام اولاده دا ستاسو دپاره سنت دي. او د هغه حدیث حال واورئ چه اثرم ویلي دي د محمد بن معاویه نیشاپوري ذکر د ابوعبد الله په خوا کښې اوشو. یعنی د امام احمد رحمه الله په خوا کښې. نو هغهٔ اوفرمایل چه زهٔ د هغه حدیثونه د زړهٔ جوړ شوي ګنړم. بیائے ذکر کړو دغه روایت لره د ابی الملیح نه. چه هغه راوی دے د میمون نه، هغه د ابن عباس رضی الله عنهما نه. چه فرښتو په آدم علیه السلام مونځ اوکړو او څلور تکبیرونه ئے اوویل. دا روایت صحیح نهٔ دے . او مرفوعًا او موقوفًا په دواړه قسمه مروی دے. چه د معاذ رضی الله عنه یارانو تولو به څلور تکبیرونه ویلو چنانچه علقمه عبد الله ته اووے. چه د معاذ رضی الله عنه دوستان د شام نه راغلي دي. او هغوی په یوه جنازه باندے پنځهٔ تکبیرونه اوویل. نو عبد اللهؓ اووے تکبیرونه څهٔ مقرر نهٔ دي. امام چه څومره تکبیرونه وائي نو تاسو هم وایئ. او کله چه هغه سلام ګرځوي نو تاسو هم سلام ګرځوئ.

عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا لَهَا حَتَّى تُخَلِّفَكُمْ أَوْ تُوضَعَ

عامر ویلي دی رسول الله ﷺ فرمایلي دي کله چه تاسو جنازه اووینئ نو اودریږئ تردے پورے چه مخکښې لاړه شي. یا په زمکه باندے کیښودے شي[1].

عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الْجَنَازَةَ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَاشِيًا مَعَهَا فَلْيَقُمْ حَتَّى تُخَلِّفَهُ أَوْ تُوضَعَ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُخَلِّفَهُ

عامر ویلي دی نبی کریم ﷺ فرمایلي دي. هر کله چه څوک سړے جنازه اووینی. نو کهٔ چرے د هغے سره تلو والا نهٔ وی نو اودریږی د تردے پورے چه هغه جنازه مخکښې لاړه شي. یا په زمکه کیښودے شي د وړاند تلو نه مخکښې.

مسلم ویلي دي او روایت کړے دے ما ته ابو کامل هغهٔ ته حمّاد او روایت کړے دے ما ته یعقوب ویلي دي روایت کړے دے ما ته ابن معنٰی هغهٔ ته یحیٰی هغهٔ ته عُبید الله. او روایت کړے دے مونږ ته محمد بن مثنٰی هغهٔ ته ابن ابی عدی. هغهٔ ته ابن عون. او روایت کړے دے ما ته محمد بن رافع هغهٔ ته عبد الرّزاق هغهٔ ته ابن جریج دغه ټولو د نافع نه ددغے اسناد سره په شان د حدیث د لیث بن سعد. مګر د ابن جریج په روایت کښې دا الفاظ دي. چه فرمایلي

[1] امام نووی رحمه الله فرمایلي دي چه د جنازے په لیدو سره په اودریدو کښې خلقو اختلاف کړے دے. بعضو ویلي دي چه دا حکم منسوخ دے. دغه رنګے د مالک او ابوحنیفه او شافعي رحمهم الله دغه مذهب دے. او امام احمد او اسحٰق او ابن حبیب او ابن ماجشون مالکي رحمهم الله ویلي دي چه اختیار دے کهٔ غواړي او دریږي د یا د نهٔ اودریږي. او څوک چه د جنازے سره تلے دے په هغه کښې اختلاف دے بعضو د سلفو او صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم نه ویلي دي چه د کومے پوری جنازه ایخودے شوے نهٔ وی نهٔ به کینی او اوزاعي او احمد او اسحٰق اود محمد بن حسن دغه قول دے. او په قبر باندے د کومے پورے چه جنازه دفن شوے نهٔ وی او په اودریدو کښې هم اختلاف دے. خنو ورته مکروه ویلي دي او خنو په دے باندے عمل کړے دے. او د شافعیو مشهور مذهب دا دے چه اودریدل مستحب نهٔ دي. او دا حدیث منسوخ دے د حضرت علي رضي الله عنه په روایت سره. او د شافعیو د ملګرو نه متولي ویلي دي چه اودریدل مستحب دي. او دغه مذهب غوره شوے دے. غرض دا چه اودریدل مستحب دي. او نهٔ اودریدل جائز دي. او دعوه د منسوخ داسے خائے صحیح نهٔ ده. کوم خائے چه تطبیق کیدے شي په دوو روایتونو کښې.

مسلم رحمه الله ویلي دي او روایت کړے دے مونږ ته دغه حدیث قتیبه هغهٔ ته لیث او روایت کړے دے مونږ ته حرمله هغهٔ ته ابن وهب ویلي دي خبر راکړے دے ماله یونس دغه ټولو د ابن شهاب نه د دغے اسناد سره. او د یونس په روایت کښې داده چه هغوی د رسول الله صلّی الله علیه وسلم نه اوریدلي چه فرمایل ئے وو (مخکښې هغه روایت دے کوم چه پورته ذکر شو)

دی رسول الله ﷺ : إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الْجَنَازَةَ فَلْيَقُمْ حِينَ يَرَاهَا حَتَّى تُخَلِّفَهُ إِذَا كَانَ غَيْرَ مُتَّبِعِهَا جنازے لره چه اووینی نو پکار ده چه اودریږی. کله چه هغے لره اووینی تردے پورې چه جنازه مخکښې لاړه شی. کله چرے دے د جنازے سره تلل نه غواړی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا اتَّبَعْتُمْ جَنَازَةً فَلَا تَجْلِسُوا حَتَّى تُوضَعَ

ابوسعید خدری ؓ ویلی دی رسول الله ﷺ فرمایلی دی کله چه څوک د جنازے سره ځی نو د کومے پورے چه هغه اودریدلی نه وی نه د کینی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا فَمَنْ تَبِعَهَا فَلَا يَجْلِسْ حَتَّى تُوضَعَ

ابو سعید خدری ؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی کله چه جنازه اووینئ نو اودریږئ او څوک چه ورسره ځی هغه به نه کینی د کومے پورے چه جنازه ایخودے شوے نه وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَرَّتْ جَنَازَةٌ فَقَامَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْنَا مَعَهُ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهَا يَهُودِيَّةٌ فَقَالَ إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ فَإِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا

جابر بن عبد الله ؓ ویلی دی یو جنازه تیره شوه نو رسول الله ﷺ اودریدو او مونږ هم د هغهٔ سره اودریدو. بیا مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ! هغه خو د یهودی ښځے جنازه ده. حضرت ؐ اوفرمایل. مرګ د یرے شیز دے. بیا چه کله تاسو جنازه اووینئ نو اودریږئ.

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ لِجَنَازَةِ يَهُودِيٍّ حَتَّى تَوَارَتْ

جابر ؓ ویل وو. نبی کریم ﷺ او د هغهٔ صحابه ؓ اودریدل د یو یهودی د جنازے دپاره تردے پورے چه هغه د سترګو نه پناه شوه.

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ قَامَ النَّبِيُّ ﷺ لِجَنَازَةٍ مَرَّتْ بِهِ حَتَّى تَوَارَتْ

جابر ؓ ویلی دی چه نبی کریم ﷺ اودریدهٔ د یوے جنازے دپاره تردے پورے چه هغه پناه شوه.

عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى أَنَّ قَيْسَ بْنَ سَعْدٍ وَسَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ كَانَا بِالْقَادِسِيَّةِ فَمَرَّتْ بِهِمَا جَنَازَةٌ فَقَامَا فَقِيلَ لَهُمَا إِنَّهَا مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَقَالَا إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتْ بِهِ جَنَازَةٌ فَقَامَ فَقِيلَ إِنَّهُ يَهُودِيٌّ فَقَالَ أَلَيْسَتْ نَفْسًا

ابن ابی لیلیٰ ؒ ویلی دی چه قیس بن سعد او سهل بن حنیف دواړه په قادسیه کښې وو. او یوه جنازه تیره شوه او هغوی اودریدل. نو هغوی ته اوویلے شو چه دا د دے زمکے د خلقو نه دے (یعنی د کافرو نه دے) دواړو اووے چه د رسوال الله ﷺ په خواه کښې یوه جنازه تیره شوه او هغوی ؐ اودریدل نو عرض اوشو چه هغه یهودی دے. هغوی اوفرمایل. آیا دا یو نفس نه دے؟

عَنْ وَاقِدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ أَنَّهُ قَالَ رَآنِي نَافِعُ بْنُ جُبَيْرٍ وَنَحْنُ فِي جَنَازَةٍ قَائِمًا وَقَدْ جَلَسَ يَنْتَظِرُ أَنْ تُوضَعَ الْجَنَازَةُ فَقَالَ لِي مَا يُقِيمُكَ فَقُلْتُ أَنْتَظِرُ أَنْ تُوضَعَ الْجَنَازَةُ لِمَا يُحَدِّثُ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ فَقَالَ نَافِعٌ فَإِنَّ مَسْعُودَ بْنَ الْحَكَمِ حَدَّثَنِي عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَنَّهُ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ثُمَّ قَعَدَ

مسلمؒ ویلی دی . روایت کړے دے ما ته قاسم بن زکریا هغهٔ ته عبید الله هغهٔ ته شیبانی هغهٔ ته اعمش هغهٔ ته عمرو بن مره دد ے اسناد سره . او په هغے کښں دا الفاظ دی چه هغوی ویلی دی مونږ د رسول الله ﷺ سره وو. چه یوه جنازه تیره شوه.

واقد وائی چه زهٔ نافع اولیدم چه زهٔ د یوے جنازے سره ولاړ وم او هغه ناست و انتظار ئے کولو د جنازے د ایخودو. بیا هغوی ما ته اووے. چه ته د څهٔ په انتظار کښں ولاړ ئے؟ ما اووے. زهٔ د جنازے د ایخودو منتظر یم د هغه حدیث په خیال سره کوم چه روایت کړے دے ابوسعید خدریؓ نو نافع وائی چه مسعود ابن الحکم روایت کړے دے حضرت علیؓ نه چه هغوی ویلی دی چه رسول الله ﷺ اودریدلو او بیا کیناستو.

مسلم ویلی دی. چه روایت کړے دے ما ته محمد بن مثنی او اسحٰق بن ابراهیم او ابن ابی عمرو دے تولو د ثقفی صاحب نه ابن مثنی وائی چه عبد الوهاب ویلی دی. اوریدلی دی ما د یحییٰ بن سعید نه وائی چه خبر راکړے دی ما ته واقد بن عمرو بن سعد بن معاذ انصاری چه نافع بن جبیر خبر ورکړو. چه مسعود بن الحکم انصاری هغهٔ ته خبر ورکړے دے.چه اوریدلی دی هغوی د علی ابن ابی طالبؓ نه چه د جنازو په حق کښں ئے فرمایلی وو. چه رسول الله ﷺ به وړاندے اودریدهٔ (یعني چه جنازه به ئے اولیده) بیا به کیناستو. او دا حدیث ئے ددے دپاره روایت کړو. چه نافع بن جبیر اولیدو واقد بن عمرو لره چه هغه ولاړ وو تردے پورے چه جنازه کیښودے شوه. او ویلی دی مسلمؒ چه روایت کړے دے مونږ ته هم ابوکریب هغهٔ ته ابو زائده هغهٔ ته یحییٰ ددغه اسناد سره.

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ رَأَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فَقُمْنَا وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا يَعْنِي فِي الْجَنَازَةِ

حضرت علی ویلی دی چه اولیدو مونږ رسول الله ﷺ لره ولاړ نو مونږ هم اودریدو د هغهٔ سره. او هغه کیناستهٔ نو مونږ هم کیناستو یعنی په جنازه کښې[1].

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَنَازَةٍ فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهِ وَهُوَ يَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ قَالَ حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ أَنَا ذَلِكَ الْمَيِّتَ

عوف بن مالک ویلی دی چه رسول الله ﷺ په یوه جنازه مونځ اوکړو او ما ته د هغهٔ ددُعا نه دا الفاظ یاد دی. د: اَللّٰهُمَّ نه د اَلنَّار پورے یعنی ای الله اوبخښے دهٔ لره او رحم اوکړه په دهٔ باندے او تندرستی ورکړه دهٔ لره په خپل عنایت سره مهربانی اوکړه په دهٔ باندے. ددهٔ کور (قبر) فراخه کړے.. او دهٔ لره په اوبو او واورے سره ږلیٔ سره اووینځے. او دهٔ لره د ګناهونو نه صفا کړے. لکه سپینه کپړه چه د خیرو وغیره نه صفا کړے شی.او دهٔ لره ددے کور په بدله کښې ددے نه غوره کور ورکړے. او ددهٔ د ښځے نه دهٔ له غوره ښځه ورکړے. او جنت ته ئے بوځے او د قبر د عذاب نه ئے بچ کړے تر دے پورے چه ما دا آرزو اوکړه چه کاشکے دا مړے زهٔ وے[2].

مسلم ویلی دی. او روایت کړے دے ما ته عبد الرحمٰن بن جُبیر هغهٔ ته د هغهٔ پلار هغهٔ ته عوف بن مالک هغوی د نبی کریم ﷺ نه دغه حدیث په شان ددے روایت. مسلم ویلی دی. او روایت کړے دے مونږ ته اسحٰق بن ابراهیم هغوی د معاویه نه ددغے دواړو سندونو سره د ابن وهب د روایت په مثل.

---

[1] اوس ثاسو ته یقین راغے. چه مونږ چه کوم پورته ویلی وو چه اودریدل امر مستحب دے. او کیناستل روا دی. دغه خبره د روایتونو په روئ سره ډیره صحیح ده.

مسلم رحمه الله ویلی دی. او روایت کړے دے ما ته دغه حدیث محمد بن ابی بکر او عبد الله بن سعید دواړو ویلی دی چه روایت کړے دے مونږ ته یحیی او هغه قطان دے هغوی د شعبه نه ددے اسناد سره.

[2] ما دا آرزو اوکړه چه دا مړے زهٔ وے. ددے دپاره چه د حضرت ﷺ دُعا ماته رارسیدلے وے (امام نووی رحمه الله). او فقیر مترجم ددے کتاب هم دا ارزو کوی چه دغه مړے زهٔ وے چه د حضرت محمد رسول الله ﷺ ددغے دُعا مزے م اخستے وے.

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ يَقُولُ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَاعْفُ عَنْهُ وَعَافِهِ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِمَاءٍ وَثَلْجٍ وَبَرَدٍ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَ النَّارِ قَالَ عَوْفٌ فَتَمَنَّيْتُ أَنْ لَوْ كُنْتُ أَنَا الْمَيِّتَ لِدُعَاءِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ذٰلِكَ الْمَيِّتِ

د عوف بن مالک اشجعیؓ نه روایت دے. هغه وائی چه ما د نبی ﷺ نه واوریدل هر کله چه په یو جنازه ئے مونځ کولو او فرمایل ئے اللّٰهُمَّ الخ اے الله دے اوبخښے او په دهٔ رحم اوکړے او دے معاف کړے او دهٔ ته عافیت اوکړے. او ددهٔ ښهٔ میلمستیا اوکړے او ددهٔ قبر فراخه کړے. او دے په اوبو او واوره او ږلئ ووینځے. او دے د ګناهونو نه داسے پاک کړے څنګه چه سپینه کپړه د خیرونه پاکیږی او دهٔ له د ددهٔ د کور نه غوره کور ورکړے. او دهٔ له ددهٔ د ښځے نه غوره ښځه ورکړے. او دے د قبر د امتحان نه او د دوزخ د عذاب نه اوساتے. عوفؓ وائی چه ما ارمان اوکړو چه کاش دا مړے زهٔ وے. ددهٔ دا ارمان په دے مړی د حضور د دعا په وجه اوشو.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ وَصَلَّى عَلَى أُمِّ كَعْبٍ مَاتَتْ وَهِيَ نُفَسَاءُ فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لِلصَّلَاةِ عَلَيْهَا وَسَطَهَا

سمره بن جندبؓ ویلی دی چه ما په رسول اللهﷺ پسی مونځ کولو. او هغه د کعبؓ په مور مونځ کولو او هغه په نفاس کښں وه او نبی کریم د هغے د نمائی په برابر ولاړ وو.

مسلمؒ ویلی دی. روایت کړے دے مونږ ته دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبه هغهٔ ته ابن مبارکؒ او یزید بن هارون او ویلی دی روایت کړے دے ما ته علی بن حجر هغهٔ ته ابن مبارک او فضل بن موسیٰ دے ټولو روایت کړے دے د حسین نه ددے اسناد سره. او د کعبؓ د مور ذکر ئے نهٔ دے کړے.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ لَقَدْ كُنْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا فَكُنْتُ أَحْفَظُ عَنْهُ فَمَا يَمْنَعُنِي مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا أَنَّ هَاهُنَا رِجَالًا هُمْ أَسَنُّ مِنِّي وَقَدْ صَلَّيْتُ وَرَاءَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا فَقَامَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فِي الصَّلَاةِ

سمره بن جندبؓ ویلی دی چه زهٔ د رسول اللهﷺ په زمانه مبارکه کښں هلک وم. او د هغهٔ احادیث به مے یاد ساتل او ددے وجے نه به مے نهٔ ویل. چه زمانه بوډاګان خلق هلته موجود وو. (سبحان الله دا کمال د سعادتمندو او بزرګانو خلقو د ادب دے) او ما په رسول اللهﷺ پسی مونځ اوکړو په

وَسَطَهَا وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ قَالَ فَقَامَ عَلَيْهَا لِلصَّلَاةِ وَسَطَهَا

يوے ښځه باندے چه هغه په حالت د نفاس کښې وه. او هغه د مانځه په وخت د هغے د مينځ په برابر باندے اودريدلو. او د ابن مثنی د روايت مضمون هم دغه دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفَرَسٍ مُعْرَوْرًى فَرَكِبَهُ حِينَ انْصَرَفَ مِنْ جَنَازَةِ ابْنِ الدَّحْدَاحِ وَنَحْنُ نَمْشِي حَوْلَهُ

جابر بن سمرهؓ ويلي دي چه د نبي کريم ﷺ خواته بغير د زين نه خالي شا يو آس راغے. او هغهؐ په هغے باندے سور شو. او مونږ د هغهؐ نه چاپيره پيدل وو. کله چه د ابن دحداح د جنازے نه هغه واپس شو[1] شو[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَلَى ابْنِ الدَّحْدَاحِ ثُمَّ أُتِيَ بِفَرَسٍ عُرْيٍ فَعَقَلَهُ رَجُلٌ فَرَكِبَهُ فَجَعَلَ يَتَوَقَّصُ بِهِ وَنَحْنُ نَتَّبِعُهُ نَسْعَى خَلْفَهُ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ كَمْ مِنْ عِذْقٍ مُعَلَّقٍ أَوْ مُدَلًّى فِي الْجَنَّةِ لِابْنِ الدَّحْدَاحِ وَقَالَ شُعْبَةُ لِأَبِي الدَّحْدَاحِ

جابر بن سمرهؓ ويلي دي چه رسول الله ﷺ د ابن دحداح (د جنازے) مونځ اوکړو. بيا هغهؐ له يو شاتورے آس راوستلے شو. او هغه آس دۀ ته يو سړے اونيولو بيا پرے هغهؐ سور شو. او هغه منډے کړے او مونږ ټول د هغهؐ نه روستو وو. او منډے مو وهلے. بيا د قوم نه يو سړي اووے چه نبي کريم ﷺ فرمايلي چه د ابن دحداح دپاره په جنت کښې څومره غنچے اويزاندے شوي دي.

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ الْحَدُوا لِي لَحْدًا وَانْصِبُوا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سعد ابن ابي وقاصؓ په خپله هغه بيمارئ کښې اوفرمايل په کومے چه د هغۀ وفات اوشو. چه زما دپاره لحد جوړ کړئ. او په هغے کښې څۀ خښتے اولګوئ. لکه چه د رسول الله ﷺ دپاره جوړ کړے شوے دے[2] دے[2]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جُعِلَ فِي قَبْرِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَطِيفَةٌ حَمْرَاءُ

ابن عباسؓ ويلي دي چه د رسول الله ﷺ په قبر مبارک کښې سور څادر خور کړے شوے وو.

مسلمؒ ويلي دي. د ابوجمره نوم نصر بن عمران او د ابو التياح نوم يزيد بن حميد دے. چه دواړه په سرخس کښې وفات اوکړو. دا

عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ شُفَيٍّ حَدَّثَهُ قَالَ كُنَّا مَعَ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ بِأَرْضِ الرُّومِ بِرُودِسَ

---

[1] د دے حديث شريف نه معلومه شوه. چه د جنازے نه د واپسئ په وخت به په سورلئ باندے تلو

[2] د دے حديث شريف نه معلومه شوه چه لحد جوړول مستحب دي. کومے ته چه بغلي قبر ويلے شي. او د حضرت صلی الله عليه وسلم دپاره په اتفاق د صحابو رضي الله عنهم دغه شان قبر جوړ شوے وو. او به هغے کښې کچه خښتے لګيدلے وے

تُوُفِّيَ صَاحِبٌ لَنَا فَأَمَرَ فَضَالَةُ بْنُ عُبَيْدٍ بِقَبْرِهِ فَسُوِّيَ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِتَسْوِيَتِهَا

عَنْ أَبِي الْهَيَّاجِ الْأَسَدِيِّ قَالَ قَالَ لِي عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى عَنْ تَقْصِيصِ الْقُبُورِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى

دواړه ددے سند راویان دی.

ثمامه بن شفی وائی چه مونږ د فضاله سره وو د روم په زمکه برودس کښې (چه نوم د جزیرے او مقام دے) او زمونږ یو ملګرے مړ شو. نو فضاله حکم اوکړو چه دده قبر د برابر کړے شی. او هغوی اووے چه اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه چه حکم ئے فرمایلے وو زمونږ د قبرونو د برابرولو[1].

ابی الهیّاج اسدی ویلی دی ما ته حضرت علیؓ اوفرمایل. چه زهٔ تا لیږم د هغه څهٔ دپاره چه د هغے دپاره زهٔ رسول الله ﷺ لیږلے وم. چه پرے نږدے څهٔ تصویر مګر ختم کړه هغے لره او پرینږدے اوچت قبر لره مګر د زمکے سره ئے برابر کړه.

مسلمؒ ویلی دی روایت کړے دے ماته ابوبکر بن خلاد د یحیی نه، هغوی د سفیان نه. ویلی دی سفیان روایت کړےدے ماته حبیب ددے اسناد سره دغه حدیث او په هغے کښې دا الفاظ دی. وَلَا صُورَةً إِلَّا طَمَسْتَهَا یعنی مهٔ پرېږده یو تصویر مګر دا چه ختم کړه هغے لره.

جابرؓ ویلی دی. رسول الله ﷺ منع فرمایلی ده ددے نه چه قبرونو لره پاخهٔ جوړوئ او ددے نه چه په هغے باندے کینئ او ددے نه چه په هغے باندے ګنبدونه جوړوئ[2].

---

[1] ددے حدیث شریف نه معلومه شوه چه سنت دغه دی چه قبر د د زمکے نه اوچت نه کړلے شی. او نهٔ د د اوښ د قُب په شکل جوړ کړے شی. او د یوے لویشتے نه زیات اوچتول دیر بد دی. او دغه مذهب دے د شافعی رحمه الله. او قاضی عیاض رحمه الله نقل کړی دی چه غوره دا ده چه د قُب په شان یعنی د مهی د شا په شان ئے جوړ کړی. او دغه مذهب دے د مالک رحمه الله. غرض دا چه دنګ لوړ قبرونه جوړول او پخول او د ګنبدونو تیارول دا ټول په اجماع امت او په اتفاق د علماؤ حرام او منع دی. او دے ته غوره عمل ویل او شعار اسلام ګنړل لکه د رسول الله ﷺ سره جنګ کول دی.

[2] امام نووی رحمه الله ویلی دی چه ددے حدیث نه د پخو قبرونو جوړولو نه منع ثابته شوه. او په هغے باندے دپاسه د آبادئ جوړول منع شو. او په قبرونو باندے کیناستل هم حرام شو دغه مذهب دے د شافعی رحم الله او د جمهورو علماؤ. او امام مالک رحمه الله په خپل مؤطا کښې ویلی دی چه مراد د کیناستلو نه د قبرونو دپاسه د متیازو کولو دپاره کیناستل دی. او دغه شان تکیه لګول او کورونه

جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ فَتَخْلُصَ إِلَى جِلْدِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ

جابرؓ ویلی دی حضرت ﷺ منع فرمایلې ده د قبرونو د پخو جوړولو نه

ابوهریرهؓ ویلی دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه کچرې یو بنده ستاسو نه د اُور په انګار باندې کینی او د هغۀ کپړې اوسوزی او اُور د هغۀ څرمن ته اورسی نو هم غوره ده د هغې نه چه په قبر باندې کینی.

مسلمؒ ویلی دی . او روایت کړې دې موږ ته قتیبه هغۀ ته عبد العزیز . او ویلی دی روایت کړې دې ما ته عمرو ناقد هغۀ ته ابو احمد هغۀ ته سفیان ، دغې دواړو روایت کړې دې د سهیل نه دې اسناد سره په شان د هغې کوم چه پورته ذکر شو.

عَنْ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا

ابومرثد غنویؓ ویلی دی رسول الله ﷺ فرمایلی دی مۀ کینئ تاسو په قبر باندې او مۀ د هغې په طرف باندې مونځ کوئ.

عَنْ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَا تُصَلُّوا إِلَى الْقُبُورِ وَلَا تَجْلِسُوا عَلَيْهَا

ابومرثد غنوی ویلی دی . چه ما د رسول الله نه اوریدلې دی چه هغوی فرمایل . قبرونو ته مونځ مۀ کوئ او مۀ په قبرونو کینئ.

عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ أَمَرَتْ أَنْ يَمُرَّ بِجَنَازَةِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ فِي الْمَسْجِدِ فَتُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَأَنْكَرَ النَّاسُ ذَلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ مَا أَسْرَعَ مَا نَسِيَ النَّاسُ مَا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى سُهَيْلِ بْنِ الْبَيْضَاءِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ

عباد بن عبد الله ویلی دی چه حضرت عائشېؓ حکم اوکړو چه د سعد بن ابی وقاصؓ جنازه جماعت ته دننه راوړئ. دد ې د پاره چه هغۀؓ پرې هم مونځ ادا کړی. خلق په دې باندې حیران شو. بیا

جوړول. او امام شافعی رحمه الله په اُم کښې ویلی دی چه ډیرو امامانو لره ما لیدلی دی. چه هغوی به په قبرونو د ګنبدونو وغیره د غورځولو حکم کوو. او فقهاؤ هغه خاوره کومه چه د قبرو نه وتلې وی د هغې نه زیاتې خاورې لره په قبر باندې غورځولو ته مکروه ویلی دی . د پخو جوړولو او عمارت د اودرولو خو څۀ ذکر دې. مسلم رحمه الله ویلی دی او روایت کړې دې ما ته هارون هغۀ ته حجاج. او ویلی دی روایت کړې دې ما ته محمد بن رافع هغۀ ته عبد الرّزاق دواړو روایت کړې دې د ابن جریج نه. هغوی د ابن زبیر نه. چه اوریدلی دی هغوی د جابررضی الله عنه نه چه ویلی ئې وو اوریدلی دی ما د رسول الله صلّی الله علیه وسلم نه په شان د هغې کوم چه پورته ذکر شو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا لَمَّا تُوُفِّيَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ أَرْسَلَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَمُرُّوا بِجَنَازَتِهِ فِي الْمَسْجِدِ فَيُصَلِّينَ عَلَيْهِ فَفَعَلُوا فَوُقِفَ بِهِ عَلَى حُجَرِهِنَّ يُصَلِّينَ عَلَيْهِ أُخْرِجَ بِهِ مِنْ بَابِ الْجَنَائِزِ الَّذِي كَانَ إِلَى الْمَقَاعِدِ فَبَلَغَهُنَّ أَنَّ النَّاسَ عَابُوا ذَلِكَ وَقَالُوا مَا كَانَتِ الْجَنَائِزُ يُدْخَلُ بِهَا الْمَسْجِدَ فَبَلَغَ ذَلِكَ عَائِشَةَ فَقَالَتْ مَا أَسْرَعَ النَّاسَ إِلَى أَنْ يَعِيبُوا مَا لَا عِلْمَ لَهُمْ بِهِ عَابُوا عَلَيْنَا أَنْ يُمَرَّ بِجَنَازَةٍ فِي الْمَسْجِدِ وَمَا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى سُهَيْلِ بْنِ بَيْضَاءَ إِلَّا فِي جَوْفِ الْمَسْجِدِ قَالَ مُسْلِم سُهَيْلُ بْنُ دَعْدٍ وَهُوَ ابْنُ الْبَيْضَاءِ أُمُّهُ بَيْضَاءُ

حضرت عائشې اوفرمایل چه دومره زر هیر کړو خلقو هغې لره چه رسول الله ﷺ مونځ اوکړو په سهیل بن بیضاء باندی په جماعت کښې[1].

حضرت عائشې فرمایلي دی چه کله سعد بن ابی وقاص وفات شو. نو د رسول الله ﷺ پاکو بیبیانو وینا اولیږله چه د هغهٔ جنازه جماعت ته یوسئ چه مونږ خلق هم پر مونځ اوکړو. پس هغه شان ئې اوکړو او د هغوی د حجرو مخې ته ئې جنازه کیښوده. چه هغو مونځ اوکړې په هغې باندې. او جنازه ئې بیا د باب الجنائز نه چه د مقاعد په طرف وو بهر یوړله. او خلقو ته دا خبر اورسیدو نو عیب ئې شروع کړو. او اوئې ویل چه جنازه چرته خلق جماعت ته راوړی؟ په دې باندې حضرت عائشې اوفرمایل . چه خلقو ولې دومره زر عیب لګول شروع کړو په هغه څهٔ چه هغه پوهه نهٔ دی په هغې باندې. هغوی په مونږ باندې عیب لګوی چه جنازه ئې جماعت ته راوړله او خبره داده. چه رسول الله ﷺ د بیضاء په خوئ سهیل باندې مونځ نهٔ دې لوستی مګر په جماعت کښې دننه.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ عَائِشَةَ

---

[1] په یو روایت کښې راغلي دی چه د بیضاء په دوو خامنو باندې هغهٔ مونځ اوکړو په جماعت کښې او په یو روایت کښې د هغهٔ نوم سهیل راغے او د هغهٔ د رور نوم عالمانو ویلې دې چه د بیضاء درې خامن وو. سهل ، سهیل ، او صفوان او مور د هغوی بیضاء وه چه نوم د هغې وعد وو او بیضاء د هغې صفتی نوم وو او د هلکانو د پلار نوم وهب وو. او په دې حدیث کښې دلیل دې امام شافعی رحمه الله لره او اکثرو خلقو لره چه هغه د جنازې مونځ په جماعت کښې کولو ته روا وائی. او دغه مذهب دې د ابی حبیب مالکی او احمد او اسحٰق رحمهم الله او د ابن ذئب او د ابوحنیفه او مالک رحمهما الله مذهب دادې چه د جنازې مونځ په جماعت کښې جائز نهٔ دې. او دلیل راوړی دا خلق د ابو داؤد د روایت نه چه حضرت ﷺ اوفرمایل چه څوک د جنازې مونځ په جماعت کښې ادا کړی د هغه دپاره څهٔ نشته. او دلیل د شافعی رحمه الله وغیره دا د سهیل رضی الله عنه حدیث دې. او د ابوداؤد د روایت دغو خلقو ډیر جوابونه ورکړی دی. یو دادې چه هغه ضعیف دې. او د دلیل راوړلو قابل نهٔ دې. امام احمد فرمایلي دی. دا حدیث ضعیف دې چه یواځې صالح مولی تو نمه روایت دې. او هغه ضعیف دې. او کهٔ چرې ثابت هم شی. نو د لَا شَیْئَ عَلَیْهِ په معنی کښې دې. یعنی د هغهٔ دپاره څهٔ ملامت نشته.

لَمَّا تُوُفِّيَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَتِ ادْخُلُوا بِهِ الْمَسْجِدَ حَتَّى أُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَأُنْكِرَ ذٰلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ وَاللهِ لَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَيْ بَيْضَاءَ فِي الْمَسْجِدِ سُهَيْلٍ وَأَخِيهِ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّمَا كَانَ لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَأَتَاكُمْ مَا تُوعَدُونَ غَدًا مُؤَجَّلُونَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ وَلَمْ يُقِمْ قُتَيْبَةُ قَوْلَهُ وَأَتَاكُمْ

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ بْنِ الْمُطَّلِبِ أَنَّهُ قَالَ يَوْمًا أَلَا أُحَدِّثُكُمْ عَنِّي وَعَنْ أُمِّي قَالَ فَظَنَنَّا أَنَّهُ يُرِيدُ أُمَّهُ الَّتِي وَلَدَتْهُ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ أَلَا أُحَدِّثُكُمْ عَنِّي وَعَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا بَلَى قَالَ قَالَتْ لَمَّا كَانَتْ لَيْلَتِيَ الَّتِي كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا عِنْدِي انْقَلَبَ فَوَضَعَ رِدَاءَهُ وَخَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عِنْدَ رِجْلَيْهِ وَبَسَطَ طَرَفَ إِزَارِهِ عَلَى فِرَاشِهِ فَاضْطَجَعَ فَلَمْ يَلْبَثْ إِلَّا رَيْثَمَا ظَنَّ أَنْ قَدْ رَقَدْتُ فَأَخَذَ رِدَاءَهُ

مسلمؒ ویلی دی چه هغه سهیل د وعد خوئ دے. چه مور د هغهٔ وعد ده. او وصف د هغے بیضاء دے.

ابوسلمه بن عبد الرحمٰن ویلی دی. چه کله سعد بن ابی وقاصؓ وفات شو. نو حضرت عائشےؓ اوفرمایل چه د هغهٔ جنازه جماعت ته راؤړئ چه زهٔ پرے مونځ اوکړم. خلق په دے کښ حصار شو. نو هغوی اوفرمایل. په خدائے قسم دے. چه مونځ کړے دے رسول اللهﷺ د بیضاء په دواړو ځامنو سهیل او د هغهٔ په رور باندے په جماعت کښ.

حضرت عائشهؓ فرمائی چه د رسول اللهﷺ وار چه به کله ځما سره وو. نو د شپے په آخره حصه کښ به د بقیع (قبرستان) په طرف باندے وتلو او ویل به ئے چه سلام دے په تاسو باندے اے کور والا مؤمنانو! راغلو تاسو ته هغه چه تاسو سره وعده وه. چه صبا به بیا مومئ د یوے مدے نه پس او مونږ کهٔ چرے د الله خوښه شی ستاسو سره میلاویدونکی یو. یا الله بخښنه اوکړے بقیع غرقد والو ته. او د قتیبه په روایت کښ د لَوْ اَتَاكُمْ لفظ نشته دے.

محمد بن قیس یوه ورځ اووے. چه ولے زهٔ تاسو ته خپل تیر شوی حالات او د خپلے مور تیر شوی واقعات واؤروم. او زمونږ دا خیال وو چه کیدے شی د مور نه ئے هغه مور مراد ده د کومے نه چه پیدا دے. بیا هغوی اووے چه فرمایلی دی حضرت عائشےؓ. هغےؓ اووے. چه زهٔ تلسو ته خپل او د رسول اللهﷺ تیر شوی واقعات واؤروم. مونږه اووے چه ضرور. هغےؓ اوفرمایل. چه یوه شپه نبی کریمﷺ زمونږ کره وو. چه هغهؐ په دده واوریدهٔ او خپل څادر ئے واخستهٔ او پیزار ئے ویستهٔ خپو ته ئے کیښودهٔ. او د څادر غاړه په خپله بستره خوره کړه او سملاستهٔ او لږ

رُوَيْدًا وَانْتَعَلَ رُوَيْدًا وَفَتَحَ الْبَابَ فَخَرَجَ
ثُمَّ أَجَافَهُ رُوَيْدًا فَجَعَلْتُ دِرْعِي فِي رَأْسِي
وَاخْتَمَرْتُ وَتَقَنَّعْتُ إِزَارِي ثُمَّ انْطَلَقْتُ
عَلَى إِثْرِهِ حَتَّى جَاءَ الْبَقِيعَ فَقَامَ فَأَطَالَ
الْقِيَامَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ
انْحَرَفَ فَانْحَرَفْتُ فَأَسْرَعَ فَأَسْرَعْتُ
فَهَرْوَلَ فَهَرْوَلْتُ فَأَحْضَرَ فَأَحْضَرْتُ
فَسَبَقْتُهُ فَدَخَلْتُ فَلَيْسَ إِلَّا أَنْ
اضْطَجَعْتُ فَدَخَلَ فَقَالَ مَا لَكِ يَا عَائِشُ
حَشْيَا رَابِيَةً قَالَتْ قُلْتُ لَا شَيْءَ قَالَ
لَتُخْبِرِينِي أَوْ لَيُخْبِرَنِّي اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ
قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي
فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ فَأَنْتِ السَّوَادُ الَّذِي رَأَيْتُ
أَمَامِي قُلْتُ نَعَمْ فَلَهَدَنِي فِي صَدْرِي لَهْدَةً
أَوْجَعَتْنِي ثُمَّ قَالَ أَظَنَنْتِ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ
عَلَيْكِ وَرَسُولُهُ قَالَتْ مَهْمَا يَكْتُمِ النَّاسُ
يَعْلَمْهُ اللَّهُ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ أَتَانِي
حِينَ رَأَيْتِ فَنَادَانِي فَأَخْفَاهُ مِنْكِ فَأَجَبْتُهُ
فَأَخْفَيْتُهُ مِنْكِ وَلَمْ يَكُنْ يَدْخُلُ عَلَيْكِ وَقَدْ
وَضَعْتِ ثِيَابَكِ وَظَنَنْتُ أَنْ قَدْ رَقَدْتِ
فَكَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَكِ وَخَشِيتُ أَنْ
تَسْتَوْحِشِي فَقَالَ إِنَّ رَبَّكَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَأْتِيَ
أَهْلَ الْبَقِيعِ فَتَسْتَغْفِرَ لَهُمْ قَالَتْ قُلْتُ

ساعت په دے خیال ملاست وو چه گمان ئے اوکړو چه زۀ اوده شومه بیائے په آرام خپل څادر واخستۀ او په رو ئے پیزار پخپوکۀ او رو ئے دروازه بیرته کړه. او غلے بهر اووتۀ او رو ئے دروازه بنده کړه. او ما هم خپل څادر واخستۀ او په سر مے کۀ او پرده مے راښکته کړه. او تهبند مے واچوو او په هغۀ پسے روانه شوم. تر دے پورے چه هغه بقیع ته اورسیدۀ او ډیر ساعته پورے ولاړ وو. بیائے درے خله دواړه لاسونه اوچت کړل او بیا واپس شو او زۀ هم واپس شوم. او زر زر راتلو زۀ هم زر زر راتلم. او هغۀ منډے کړے نو ما هم منډے کړے. او هغه کورته راغے او زۀ هم کورته راغلم مگر د هغۀ نه لږه مخکښں راغلم او کورته د راتلو سره سملاستم او هغه چه کله کورته راغے نو اوئے فرمایل اے عائشے! څۀ شوی دی تا لره چه ساه دِ لنډه لنډه کیږی او گیډه دے پړسیدلے ده؟ ما عرض اوکړو هیڅ نشته هغۀ اوفرمایل چه اووایه گنی هغه باریک بین خبردار (یعنی الله تعالی) به ما خبر کړی. ما عرض اوکړو چه خما پلار مور دِ ستا نه قربان وی. ما هغۀ له خبر ورکړو. بیا هغۀ اوفرمایل. هغه څۀ تور تور چه خما په نظر راتلو هغه تۀ وے؟ ما اووے جی آو. نو هغۀ خما سینه یو سوک اووهله (دا د محبت د وجے نه) چه درد ئے اوکړو. او اوئے فرمایل. چه ستا خیال وو چه الله او د هغۀ رسول به ستا حق لره ضائع کړی (یعنی ستا په نمبر کښں به د بلے بوے بی بی خواله لاړ شم) بیا ما اووے. هر کله چه خوک څۀ څیز لره پټوی نو آو خدائے پاک په هغے پوهه دے (یعنی کۀ چرے تۀ خما نه د یوے بلے بی بی خواله تلے نو هم به الله تعالی تا لره لیدۀ) هغۀ اوفرمایل. خما خواله جبرائیل راغے. کله چه تا هغه اولیدۀ. هغوی ما ته آواز اوکړو او ستا نه ئے پټه کړه. نو ما هم دا غوښتله چه ستا نه ئے پټه کړم او هغه ستا

كَيْفَ أَقُوْلُ لَهُمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ قُوْلِي السَّلَامُ عَلٰى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُهُمْ إِذَا خَرَجُوا إِلَى الْمَقَابِرِ فَكَانَ قَائِلُهُمْ يَقُوْلُ فِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ السَّلَامُ عَلَى أَهْلِ الدِّيَارِ وَفِي رِوَايَةِ زُهَيْرٍ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ لَلَاحِقُوْنَ أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي أَنْ أَسْتَغْفِرَ لِأُمِّي فَلَمْ يَأْذَنْ لِي وَاسْتَأْذَنْتُهُ أَنْ أَزُوْرَ قَبْرَهَا فَأَذِنَ لِي

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

خواله نه شو راتلے خکه چه تا خپلے کپړے غورځولے وے. او ما وے چه ګینی ته اوده شوے. نو ما ته بده ښکاریده چه تا راویښه کړم. او دا م هم یره وه چه ته به اویریږے چه چرته لاړو. بیا جبرائیل اووے چه ستا پروردګار حکم فرمایلے دے چه ته بقیع ته لاړ شه او د هغوی دپاره بخښنه اوغواړه. ما عرض اوکړو چه څنګه دے اووے اے د الله رسوله! حضرت ﷺ اوفرمایل ما اووے. سلام دے په کورونو والا باندے. او په مسلمانانو باندے. الله رحمت اوکړے زمونږ نه په مخکښې تلو خلقو باندے. او په روستو راتلونکو باندے. او مونږ کچرے الله تعالی غواړی نو ستاسو سره میلاویدونکی یو[1].

د سلیمان بن بریده د پلار نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به هغۀ ته ته ایزده کول کله چه به هغه د قبرونو په طرف باندے اووتلو. پس په هغوی کښې یو ویونکی اووے. دا الفاظ د ابوبکر د روایت دی. سلام د وی په کور والا باندے. او د زهیر په روایت کښې (دا الفاظ دی) سلام د وی په تاسو باندے اے خاوندانو د کورونو د مؤمنانو او مسلمانانو نه او په تحقیق سره مونږ کچرے الله غواړی نو ستاسو سره میلاویدونکی یو مونږ د خپل ځان او ستاسو دپاره عافیت غواړو.

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی. ما د خپلے مور د بخښش غوښتلو دپاره د الله پاک نه اجازت اوغوښتو پس

[1]: دد ے حدیث شریف نه دلیل راوړی هغه خلق چه هغه د ښځو دپاره د قبرونو زیارت کولو ته جائز وائی. او په دے کښې په دری طریقو طریقو د علماؤ اختلاف دے. یو خو دا چه ښځو لره زیارتونو له تلل حرام دی. خکه چه حضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی لَعَنَ اللهُ زَوَّرَاتِ الْقُبُوْرِ لعنت د وی د الله تعالی چه هغه ښځو باندے چه هغه د قبرونو دپاره زیارتونه کوی او دویم دا چه ښځو لره زیارتونو له تلل مکروه دی. او دریم دا چه مباح دی. او چا چه ورته مباح ویلی دی. هغوی دد ے حدیث نه. او د حدیث نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا نه دلیل نیولے دے. او د هغے جواب ئے داسے وکړے چه په کښې د اجازت صیغه مذکوره ده. بیا په اجازت کښې ښځے

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَأَمْسِكُوا مَا بَدَا لَكُمْ وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيذِ إِلَّا فِي سِقَاءٍ فَاشْرَبُوا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ

اجازت نے رانکړو اوماد هغے د قبر د زیارت دپاره اجازت اوغوښتو پس ما ته نے د هغے اجازت راکړو.

بريدهؓ وئيلي دي چه رسول اللهﷺ اوفرمايل ما به تاسو لره منع کولی د قبرونو د زيارت کولو نه پس تاسو اوس زيارت کولے شئ او ما به منع کولو تاسو لره د درے ورځو نه زياته د قربانئ غوښے لره د ايخودلو نه پس اوس چه تاسو د کومے پورے غواړئ کيښنودے شئ او ما به منع کولو تاسو لره د نبيذ جوړولو نه مګر په مشکونو کښې پس اوس د خوراک د لوښونه په کوم يو کښې چه غواړئ جوړوئ مګر د نشے څيز به نه څکئ. ابن نميرؒ په خپل روايت کښې وائي چه روايت دے د عبد الله بن بريدهؒ نه او هغه روايت کوی د خپل پلار نه.

مسلمؒ ويلي دي او روايت کړے دے مونږ ته يحيىٰ بن يحيىٰ هغهٔ ته ابوخيثمه هغهٔ ته زيد هغهٔ ته محارب هغهٔ ته ابن بريده او ويلي دي ګمان کوم چه هغوی روايت کړے دے د خپل پلار نه او شک واقع شولو ابوخيثمه ته هغوی روايت کړے د نبي کريمﷺ نه. اواوريدلي دي روايت کړے دے مونږ ته ابوبکر هغهٔ ته قبيصه هغهٔ ته سفيان هغهٔ ته علقمه هغهٔ ته سليمان هغهٔ ته د هغهٔ پلار او هغوی د نبي کريمﷺ نه. اويلي دي روايت کړے دی مونږ ته ابن ابی عمر او عبد الرّحمٰن بن حميد. دغه ټولو ته روايت کړے دے عبد الرّزاق هغوی د معمرؒ نه هغوی د عطاء نه، هغوی د عبد الله بن بريدهؓ نه. هغوی د خپل پلار بريده نه. او هغوی د نبي کريمﷺ نه. ټولو د ابی سنان په شان روايت کړے دے (يعني کوم چه پورته تير شو)

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ قَتَلَ نَفْسَهُ بِمَشَاقِصَ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ

جابر بن سمرهؓ ويلي دي چه د نبي کريمﷺ خواله يو سړے راوړلے

شو. چه هغهٔ خپل خان په یو لندهٔ غشی سره وژلے وو نو حضرت ﷺ په هغهٔ باندے مونځ اونهٔ کړو[1].

تمت

اَلْحَمْدُ لِلّٰه د مسلم شریف سره د ترجمے او د شرح نووی ؒ دویم جلد ختم شو، الله تعالی دِ ټولو مسلمانانو ته ددے نه پورا پورا د فائدے اخستو توفیق ورکړی۔ آمین

ناشر: تاج کمپنی لمټیډ پیښور

---

[1] ددے حدیث نه دلیل نیولے دے هغه خلقو چه هغه په فاسق باندے د جنازے مونځ لره منع کوی او په هغه بنده چه هغه خپل خان لره د خپله لاسه وژلے وی. دغه رنگے دغه مذهب دے د عمر بن عبد العزیز رحمه الله او د اوزاعی رحمه الله. او د حسن رحمه الله او د نخعی او د قتاده رضی الله عنه او امام مالک او د امام ابوحنیفه او د امام شافعی رحمهم الله او د جمهورو علماؤ مذهب دے چه په هغهٔ باندے مونځ کوی؛ او ددے حدیث جواب ئے دا ورکړے دے چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم پرے پخپله د جنازے مونځ نهٔ دے کړے. ددے دپاره چه خلق اوېرېږی او د داقسم خراب حرکت کولو نه راواؤړی او نورو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم پرے مونځ کړے دے او دا داسے خبره ده لکه څنګه چه حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم په قرضداری باندے د جنازے مونځ نه کولو او نور صحابهٔ کرام رضی الله عنهم ئے په قرضداری باندے د جنازے د مانځهٔ نه نهٔ منع کولو ددے دپاره چه خلق د قرض نه اوېرېږی او د هغے د ادا کولو او ورکولو په صحیح طریقه سره خیال اوساتی قاضی عیاض رحمه الله ویلی دی چه د ټولو مسلمانانو مذهب دے چه په هر مسلمان باندے د جنازے مونځ کوی اگر کهٔ هغه په حد وژلے شوے وی یا هغه لره رجم کړے وی یا چا چه خپل خان لره د خپله لاسه وژلے وی یا چه د زنا نه پیدا شوے وی غرض دا چه په ټولو باندے او د امام مالک رحمه الله وغیره قول دے چه کوم امام وی هغه د دا قسم بنده د جنازے نه پرهیز کوی ددے دپاره چه فاسقان اوېرېږی او د هغوی دپاره رټنه او تنبیهه وی

تاج کمپنی لمیٹڈ

www.tajcom.com
tajkutub@hotmail.com

حوالہ نمبر 474